تفسیر خیر کثیر

پښتو ترجمه

تفسیر ابن کثیر

تصنیف

حافظ عماد الدین ابو الفداء اسماعیل بن عمر بن کثیر الدمشقی

المتوفی ۷۷۴ھ هجری

ترجمه

مولانا شاه فیصل نبی اکرم حسینی حنفی قادری نقشبندی

اضافی خدمات ورمل اسلام آباد

تفسیر خیر کثیر

پشتو ترجمه

تفسیر ابن کثیر

مؤلف: حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمر بن ابن کثیر الدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری

مترجمین: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، وعبد الکریم صدیقی وقاری امیر نواز

جلد نمبر ⑤

تسهیلات از شاه فیصل

① د قرآنی آیاتونو تکی په تکی او روانه ترجمه

② د احادیثو تخریج

③ د فقهی مسئلو کښې مسلک حنفی وضاحت

④ مناسب عنوانات ورکول

خوروونکی

فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with Ca

دچاپ حقوق صرف ناشرسره محفوظ دی

دکتاب نوم : تفسیرخیرکثیرترجمه تفسیرابن کثیر
مؤلف: حافظ عمادالدین اسماعیل بن عمربن ابن کثیرالدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری
خورونکی : فیصل کتب خانه محله جنگی
موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د ملاویدو پتې:- د فیصل کتب خانې نه سوا
مکتبه روغانیول جلال آباد
مکتبه رحیمی خوست
نعمت کتب خانه کابل
انتشارات علامه تفتازانی هرات وکابل
صداقت کتب خانه قندهاروکابل
قدرت کتاب فروشی کابل نبی ار
علمی کتب خانه کردیز
مکتبه علمیه اکوړه خټک
دینی کتب خانه تیمرکره ره
فلاح کتب خانه جلال اباد
مکتبه فریدیه خوست
دیوبند کتب خانه خوست
جدید رشیدیه کتب خانه کابل
مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
مکتبه نعمانیه غزنی
مکتبه رحمانیه قندهار
امیرحمزه کتب خانه قندهار

Scanned with Ca

تسهیل وتکمیل

معارف القرآن [پښتو]

پښتو ترجمه او کمپوزنګ

مرکز التحقیق والعلوم العصریة

زیرنګرانی: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس،
امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده

تسهیلات وتکمیلات از شاه فیصل

① د خلاصه تفسیر په مینځ کښې د آیاتونو جملې لکول مثلاً ټول تحریفونه الله تعالی لره دی د دې نه وړاندې ((الحمد لله)) لکول.

② دیوې جملې د تفسیر نه وړاندې په ..قوله تعالی.. سره د هغې تفسیر شروع کول

③ د شیخ الهند رحمة الله په ځائې د آسانتیا د پاره د مولانا شاه فیصل د فهم القرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه لکول

④ په معارف کښې د عربۍ او فارسۍ شعرونه په پښتو کښې ترجمه کول

⑤ په کومو آیاتونو کښې چې مفتی صاحب اختصار کړې دې هلته د نورو تفاسیرونو نه تفسیر نقل کول اوپه لاندې حاشیه کښې لکول

په آخری مراحلو کښې دې انشاءالله ډیر زر به ستاسو د المارو زینت جوړ شی.

خوړونکی

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائیل: ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with Ca

د آقادروغژن کنړونکونه به انتقام اخستلې شي:..... ۲۹
لاړشه فرعون طرف ته،موسی علیه السلام ته دالله ﷻ حکم:- ۳۱
دموسی علیه السلام عذب او دهغه جواب:- ۳۱
دفرعون دموسی علیه السلام پیغام ته په سپک نظر کتل او د موسی علیه السلام جواب:..... ۳۲
د فرعون د ربوبیت دعوی:- ۳۳
درب العالمین شان دموسی علیه السلام په ژبه:..... ۳۳
دفرعون موسی علیه السلام ته دهمکی:- ۳۵
ید بیضاء د موسی علیه السلام لویه معجزه ۳۵
د فرعون ضد:- ۳۵
دحق اوباطل معرکه:- ۳۶
حق غالب اوباطل مغلوب شو او د فرعون دهمکی:- ۳۹
دجادوګرانو فرعون ته جواب:- ۳۹
د فرعون د ګرفت نه د بنی اسرائیلو ازادی:- ۳۹
موسی علیه السلام دتللو په وخت کښې دیوسف علیه السلام تابوت هم ځان سره واخستو:- ۴۰
ددوئ دوتلو فرعون ته معلومات اوشو:- ۴۰
فرعونیان یئ ټول د خپلو کورونو نه اوویستل:- ۴۰
دفرعوناوفرعونیانوعبرتناك انجام:- ۴۲
دریاب ته دالله تعالی حکم او دریاب شلیدل:- ۴۲
د موسی علیه السلام او دریاب مینځ کښې مکالمه:- ۴۳
د حضرت ابراهیم علیه السلام دعوت توحید:- ۴۴
د قوم جواب:- ۴۴
دقوم په جواب د ابراهیم علیه السلام وینا:- ۴۴
د نوح علیه السلام او هود علیه السلام هم دغه شان جواب وو:- ۴۴
زما الله څوک دی؟ ۴۵
دمکروه څیزونو نسبت الله ﷻ ته نه دی پکار:- ۴۵
اخرکښې د ابراهیم علیه السلام یو څو دعاګانې:..... ۴۶
قیامت کښې به صرف ایمان پکار راځی مال او لاونه: ۴۷
د نیکئ نیکه اودبدئ بده بدله اودکافرانود بدحالت بیان:- ۴۹
د نوح علیه السلام بې لوثه د توحید دعوت: ۵۰
د هر نبی بیان صرف دالله ﷻ دپاره وو:- ۵۰
د قوم بې وقوفانه جواب:- ۵۱
فتح دحق وی شکست د باطل:- ۵۲
دهود علیه السلام خپل قوم ته وعظ:- ۵۳
د ابودالدرداء مسلمانانو نصیحت:- ۵۴
نصیحت ئې حاصل نه کړو اوتباه شول:- ۵۵
دهرې زمانې کافرانو هم یو شان عادت وو:- ۵۵
دحضرت صالح علیه السلام قوم ته خطاب:- ۵۶

Scanned with Ca

د دنیا ناپائیداری:- ۵۷
دصالح علیہ السلام معجزه او دقوم ضد: ۵۸
د لوط علیہ السلام قوم هم دخپل نبی نافرمان وو:- ۵۹
دلوط علیہ السلام دقوم ناکاره خصلت لواطت:- ۶۱
د شعیب علیہ السلام خپل قوم ته وعظ:- ۶۱
په ناپ تول کښې دکمی ممانعت:- ۶۲
دشعیب علیہ السلام قوم هم دثمودیانو پشان جواب خپل نبی ته ورکړی:- ۶۳
په قوم شعیب دری قسمه عذابونه:- ۶۴
د قوم شعیب د عذاب کیفیت:- ۶۴
درسول الله ﷺ زړه دقران مسکن دی: ۶۵
د قرآن دحقانیت پوخ ثبوت او دعیسی علیہ السلام خطبه:- ۶۶
عذاب دحجت تمامیدونه پس راځی: ۶۷
د الله ﷻ دعدل بیان:- ۶۸
قرآن نوردهدایت دی:- ۶۸
دالله ﷻ خپل نبی ته هدایت:- ۶۹
دصفا په غرباندې دنبی علیہ السلام دتوحید اعلان:- ۷۰
تسلی ته نبی ﷺ ته اوترغیب الی الایمان:- ۷۳
قران دکاهن، شاعر یاشیطان قول بالکل نه دی بلکه؟ ۷۴
کاهنانو ته خبری شیطان راوړی:- ۷۵
په شعر کښې د اعتراف جرم حد کښې د علماء کرامو اختلاف:- ۷۶
رسول کریم ﷺ د کاهئ او شاعرئ نه پاک دی:- ۷۶
مؤمن شاعران ددې حکم نه مستثنی دی:- ۷۷
د ابو سفیان د رسول کریم ﷺ نه دری مطالبې او د هغې منظوری:- ۷۷
دا ایت مبارک عام دی دی کښې شاعر او غیر شاعر ټول شامل دی:- ۷۸
ترغیب الی القران ،وصفات المؤمنین:- ۷۹
دموسی علیہ السلام وادئ مقدس کښې ورلیدل اونبوت ملاویدل:- ۸۱
الله تعالی اودهٔ کیږی نه:- ۸۲
موسی علیہ السلام ته دالله تعالی خطاب:- ۸۲
د فرعونیانو ضد او د معجزاتو نه انکار:- ۸۳
په حضرت داؤد علیہ السلام اوحضرت علیہ السلام باندې دالله تعالی احسانات ۸۴
د مارغانو د انسانانو پشان خبری کول بې بنیاده خبره ده:- ۸۵
د داؤد علیہ السلام د غیرت او مرګ بیان:- ۸۵
د سلیمان علیہ السلام په میږو تیریدل او د میږی خپلو میږو ته هدایت:- ۸۵
د سلیمان علیہ السلام دمارغانوحاضری اخستل ۸۶
دیوخارجی اعتراض او د ابن عباس رضی اللہ عنہ جواب:- ۸۷
یوه حیران کن واقعه:- ۸۷
د سلیمان علیہ السلام د هدهد باره کښې تنبیه:- ۸۷

Scanned with Ca

دهدهد ملکه سبا متعلق اطلاع ورکول:- ۸۹
د بلقیس تخت او سازوسامان:- ۸۹
دحضرت سلیمانؑ دملکه سبا په نوم خط:- ۹۰
د بلقیس وزیرانو سره مشوره او دهغوب جواب:- ۹۲
حضرت سلیمانؑ دپاره دبلقیس تحفه ۹۲
دحضرت سلیمانؑ دتحفې قبلولونه انکار:- ۹۳
د سلیمانؑ د لښکر بلقیس سره د جهاد اعلان:- ۹٤
دبلقیس سره دلښکرو سلیمانؑ طرفته روانیدل: ۹۵
دسلیمانؑ دبلقیس دتخت راوړلو حکم اوتخت حاضریدل:- ۹۵
تخ رارسیدلو باندې دسلیمانؑ دالله ﷻ نه دعا او شکر:- ۹٦
دبلقیس دسلیمانؑ په خدمت کښې حاضریدل اوایمان راوړل:- ۹۷
دسلیمان د شیشې د محل جوړلو مقصد څه وو؟په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې:- ۹۸
دسلیمانؑ دبادشاهئ متعلق اوږد اومنکر روایت:- ۹۹
دحضرت صالحؑ خپل قوم ته بیان د توحید او دهغوئ انکار:- ۱۰۱
دثمودیانونهه بدمعاشیان او دهغوئ فسادونه اودهغوئ هلاکت:- ۱۰۳
دلوطؑ قوم ته نصیحت اودفعلئ نه منع کول: ۱۰۵
لوطؑ ته د قوم جاهلانه جواب:- ۱۰۵
د قوم د فعلئ انجام:- ۱۰۵
دالله ﷻ په نیکانو بندګانو باندې سلام لیږل: ۱۰۵
ددې نه مراد څوک دی:-؟ ۱۰٦
حقیقی خالق دهر څه صرف الله ﷻ دې:- ۱۰۷
دالله ﷻ دخالقیت مشرکان هم قائل وو خو عبآدت یې د بل چا کولو:- ۱۰۷
زمکه نهرونه غرونه سمندرونه هم الله ﷻ پیدا کړی دی ۱۰۹
د دردمندو بې کسوغریبانانودعاځوک اوری؟ ۱۰۹
د یو سړی په تپوسونو د رسول کریم ﷺ هدایات:- ۱۰۹
بل روایت کښې نور هدایات:- ۱۱۰
بیمار لره بیمارئی کښې خپل ځان دپاره دعا کول پکار دی:س ۱۱۰
یوه ډیره عجیبه واقعه: ۱۱۰
بله واقعه:- ۱۱۱
په تیارو کښې هدایت اودباران دپاره یخې هواګانې څوک چلوی ۱۱۳
په دوباره پیدا کولوباندې یوښائسته مثال ۱۱٤
علم غیب صرف دَ الله تعالی صفت دې ۱۱٤
د ستور متعلق دجاهلانو ګنده عقیدې:- ۱۱۵
د آخرت باره کښې ټول مخلوقات په نه علم کیدو برابر دی:- ۱۱۵
دَ قیامت منکران په سخت عذاب سره مخ کړې شو ۱۱۷
تندی ولې کوئی قیامت نیزدې دې ۱۱۷
دَحق اوباطل ف یصله کونکې قرآن پاک دې ۱۱۸

Scanned with Ca

د قیامت ننبې اود ۱۱۹
دویم قول:- ۱۲۰
دریم قول:- ۱۲۰
څلورم قول ۱۲۰
پنځم قول:- ۱۲۰
شپږم قوم:- ۱۲۰
اووم قول:- ۱۲۰
اتم قول:- ۱۲۰
نهم قول:- ۱۲۱
لسم قول: ۱۲۱
یوولسم قول:- ۱۲۱
دولسم قول:- ۱۲۱
دیارلسم قول:- ۱۲۱
څوارلسم قول:- ۱۲۱
پنځلسم قول:- ۱۲۱
شپاړسم قول:- ۱۲۱
داد حشرمیدان دې ۱۲۲
د الله ﷻ دقدرت دلائل:- ۱۲۳
دَقیامت څه نورې ننبې ۱۲۴
دَ کعبه عزت اوحرمت او توحید بیان ۱۲۶
درسول کریم ﷺ د رسالت بیان:- ۱۲۷
الله تعالی لوئې وړوکی یوشیز هم پټ نه دې:-الله ۱۲۷
تفسیر د سورت قصص ۱۲۸
دَ فرعونسرکشی او په بنی اسرائیلو باندې ظلمونه ۱۲۹
دذبح سبب:- ۱۲۹
څوك چه الله ﷻ بچ کول غواړی هغه څوك هم نه شی وژلې ۱۳۱
قدریه ته د عمر بن عبدالعزیز خط:- ۱۳۲
دَ موسی علیه السلام پالنه دَفرعون په کورکښې ۱۳۳
څوك چې حلاله کټه کوی او د الله ﷻ نه ویره کوی نو دهغه مثال د موسی علیه السلام دمور دې:- ۱۳۴
موسی علیه السلام اعزاز او کرام سره د مور غیږې ته واپس کړې شو:- ۱۳۴
دِ موسی علیه السلام دِ لاس نه دِ قبطی قتل ۱۳۶
دَ قتل رازښکاره شو ۱۳۷
دِ قوم فرعون نه یوخیرخواه تذکره ۱۳۸
دِ مدین سخت سفر ۱۳۸
موسی علیه السلام مدین ته اورسیدو:- ۱۳۹
دلسو کسانو بوکه موسی علیه السلام په یوازې راوویستله:- ۱۳۹
هغه ونه څنګه اودځه ده:- ۱۳۹

Scanned with Ca

شیخ کبیر او د موسی ﷺ نکاح:- ۱۴۱
دا شیخ کبیر څوک وو؟:- ۱۴۱
دا هم هغه وه چې موسی ﷺ د راغوښتلو دپاره تلې وه:- ۱۴۲
دریو کسانو دیر دعقل مندئی کارکړې دي؟:- ۱۴۲
دې ایت مبارك نه دعلامه اوزاعی استدلال:- ۱۴۲
موسی ﷺ لس کاله پوره کړی وو ددې دلائل:- ۱۴۳
د موسی ﷺ د خپل سخر نه رخصتی او بزې اخستل:- ۱۴۳
موسی ﷺ سره د خپلې ښځې مصر طرف ته واپسی:- ۱۴۵
د اوور نه د الله ﷻ د موسی ﷺ سره کلام او دوه معجزې ورکول:- ۱۴۵
د موسی ﷺ نبوت اوبعثت اودَ خپل رور د پاره دَ مقام نبوت دعا:- ۱۴۷
دالله تعالی په وحدانیت باندې دقوم حیرانتیا:- ۱۴۸
دفرعون دحدنه زیاته سرکشی:- ۱۵۰
فرعون صرف موسی ﷺ دروغژن نه ګنړلو بلکه د الله ﷻ د وجود هم قائل نه وو:- ۱۵۰
توراة نه پس یو قوم په اسمانی عذاب نه بلکه د مؤمنانو دلاسه هلاك شوې دي:- ۱۵۱
د موسی ﷺ اود نوروپه واقعاتو خبردَنبی اکرم ﷺ دَ نبوت دلیل دي:- ۱۵۲
د رسولانو په راوستولو کښې حکمت:- ۱۵۴
دکفارودیوسوال جواب:- ۱۵۵
ذکردموسی ﷺ دې خومراد تري موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړه دی:- ۱۵۶
ددوئ د اعتراض جواب:- ۱۵۶
اهل کتاب ته په نیکوعملونوباندې دوه اجره:- ۱۵۸
درې قسمه خلقو ته دوچنده ثواب ملاویږی:- ۱۵۸
رسول کریم ﷺ ته د حبشی وفد او دهغوئ ایمان راوړل اود ابوجهل په پیغور ددوئ جواب:- ۱۵۹
هدایت ورکول دنبی په اختیارکښې نه دی:- ۱۶۰
دسرکشانوکلی دعبرت نشانونه جوړشو:- ۱۶۲
دسلیمان ﷺ یوې مرغئ سره مکالمه او دهغې جوابونه:- ۱۶۲
دخبرولو نه وړاندې الله ﷻ یوکلي هم نه تباه کوی:- ۱۶۴
دنیافانی اواخرت باقی پاتې کیدونکې دي:- ۱۶۳
مشرك اودهغهٔ معبودالله ﷻ په وړاندې:- ۱۶۵
مختارکل دالله ﷻ ذات دي:- ۱۶۷
دالله ﷻ دقدرت ناقابل تردید دلائل:- ۱۶۸
دقیامت په ورځ به دالله ﷻ شریکان په نظرنه راځی:- ۱۶۹
قارون څوک اوځه وو:- ۱۷۰
د قوم نیکانو ته نصیحت:- ۱۷۰
دقارون متکبرانه جواب:- ۱۷۱
دقارون سره دځه علم وو؟:- ۱۷۱
دعیش عشرت سامان اوقارون اوددنیاد پرستو تمنا:- ۱۷۳
دنیاپرستو ته د عالمانو نصیحت:- ۱۷۳

Scanned with Ca

دتکبر همدغه سزاده: ۱۷٤
یوه عجیبه واقعه:- ۱۷٤
دقارون دهلاکت سبب:- ۱۷٤
اول سبب ۱۷٤
دویم سبب ۱۷۵
په پرهیزګاروباندې دانعام تذکره:- ۱۷٦
ښائست بدې نه دې خو چې تکبرپه کښې نه وی:- ۱۷۷
دحشرپه میدان کښې به سوال کیږی: ۱۷۸
دیو بل غټ نعمت بیان:- ۱۷۹
دمومن خوبه اوس لامتحان وی:- ۱۸۰
دلته علم په معنی د لیدلو دې:- ۱۸۱
نیك کارکول هم جهاددې:- ۱۸۱
دمورپلار مشروط اطاعت واجب دې:- ۱۸۲
داهل ایمان امتحان اومنافق:- ۱۸٤
اعمال به ستاسوپخپل کارراشی: ۱۸۵
دَ نوح ﷺ دَاوادې زمانې وعظ:- ۱۸٦
دامام الموحدین حضرت ابراهیم ﷺ دعوت توحید: ۱۸۸
غورنه کوی چاچه دنیشت نه ورته وجودورکړوهم هغه دعبادت لائق دې: ۱۸۹
دالله ﷻ په قدرتنو دلائل او اثبات د قیامت:- ۱۹۰
دنمرودداوراوابراهیم ﷺ: ۱۹۱
بت پرستی او شرك دنیا کښې د کافرانو په مینځ د محبت ذریعه وی:- ۱۹۱
حضرت ابراهیم ﷺ اوحضرت لوط ﷺ:- ۱۹۲
د قیامت د راتلو په وخت کښې به هم ټول خلق شام ته جمع کیږی:- ۱۹۳
دیوې شبهې ازاله:- ۱۹٤
دلوطیانومشهوربدعادات: ۱۹۵
دلوط ﷺ دقوم تباهی اوبربادی: ۱۹۷
دَ اهل مدین حال:- ۱۹۸
عاداوثمود قارون،فرعون اوهامان هم فنا شو: ۱۹۹
په دوئ مختلف عذابونه راغلل:- ۱۹۹
په شرك باندې یوښه مثال: ۲۰۰
تخویف ورکوی مشرکانو ته:- ۲۰۱
په مثالونو پوهیدل د علم دلیل دې:- ۲۰۱
دَ خالق حقیقی ذکر:- ۲۰۱
مونځ دبې حیایئ نه منع کول کوی:- ۲۰۲
اهل کتاب سره دمناظرې طریقه** ۲۰۳
چې قرآن شته بیا د بل دین ضرورت نشته:- ۲۰٤
اهل کتاب او مکې والو کښې څه منونکی هم شته:- ۲۰۵

Scanned with Ca

درسول کریم ﷺ د لیکلو روایت ضعیف دی:: ۲۰۶
قرآن پاك د عالمانو او حافظانو په سینو کښې محفوظ دی:: ۲۰۷
د قرآن پاك د نه وینځل کیدو او نه سوزیدلو مطلب:: ۲۰۷
د قرآن پاك نه انکار ضدی خلق کوی:: ۲۰۷
دضد په وجه دکافران د معجزو مطالبه:- ۲۰۸
ایادقران معجزه کافی نه ده:: ۲۰۸
تندی مه کوئ عذاب به ضرورراځی:- ۲۱۰
جهنم به کافرانو لره هر طرف نه ګیر کړی وی:: ۲۱۰
د هجرت ترغیب:- ۲۱۲
مرګ نزدې دی د اخرت تیاري اوکړئ ۲۱۲
دجنت بالاخانې به دچا دپاره وی :: ۲۱۲
هجرت سره رزق نه کمیږی بلکه زیاتیږی:: ۲۱۲
د کارغه بچی څه خوری؟:: ۲۱۳
درزق فراخی اوتنګی دالله تعالی په لاس کښې ده:- ۲۱۴
مشرکانوبه دمصیبت په وخت کښې الله تعالی ته اوازکولو:- ۲۱۵
د عکرمه بن ابی جهل دایمان واقعه:: ۲۱۵
زمانعمت یادکړئ اوزماپه نبی ایمان راوړئ:- ۲۱۶
د احسان مطلب:: ۲۱۷
رومیان به غالبه شی یوه عظیم الشان پیشن ګوئی:- ۲۱۸
د ابو بکر صدیق ؓ د مشرکانو سره شرط:: ۲۱۸
یوه عجیبه واقعه:: ۲۱۹
د آیتونو تشریح او د ورمیانو متعلق بحث:: ۲۲۱
د کسری او قیصر صلح او د قیصر چالاکی:: ۲۲۲
کسری ته د قیصر خط:: ۲۲۲
د قیصر بله چالاکی:: ۲۲۲
کسری ګډوډ شو او قیصر غالب شو :: ۲۲۳
آیاد روم غلبه د بدر په ورځ وه؟:: ۲۲۳
د مسلمانانو د رومیانو په فتح خوشحالی او ددې وجه:: ۲۲۴
دالله تعالی په نشاناتو کښې غوراوفکرکوئ:- ۲۲۵
د مخکښینو قومونو د هلاکتونو نه عبرت اخستل پکار دی:: ۲۲۶
دقیامت په ورځې به داعمالومطابق فیصلې وی ۲۲۸
دهرقدرت مالك الله تعالی دی:- ۲۲۸
د الله تعالی د تسبیح او د کامل قدرت بیان:: ۲۲۸
په توحیدباندې نفسی دلائل:- ۲۲۹
آدم ؑ د ټولې زمکې د نچونې نه پیدا دی:: ۲۲۹
داسمانی بجلئ چمك دهمك:- ۲۳۲
په دویم ځل پیداوښت خوالله تعالی ته آیراسان دی:- ۲۳۳

Scanned with Ca

تاسوپه خپل حق کښې شریك نه برداشت کوئ الله تعالی به ئې ولی برداشت کوی:- ۲۳٤
دفطرت نه څکه مراددي:- ۲۳۵
دانسان عجیبه حالت دی:- ۲۳۹
د مؤمن په حالت هم حیرانتیا ده:: ۲٤۰
قرابت دارو وغیره سره دصله رحمئ اوحسن سلوك حکم:- ۲٤۰
ددې مطلب او تفسیر:: ۲٤۰
د زکوة او صدقې دوچند ثواب:: ۲٤۰
دانسان دګناهونونتیجه او بر او بحر مطلب :- ۲٤۱
ګناهونو سره دزمکې فساد او اطاعت سره اصلاح کیږی:: ۲٤۲
قیامت به دالله تعالی په یوحکم سره راشی:- ۲٤۳
داخوهم دهغه نعمتونه دی:- ۲٤٤
دا تسلی ته نبی کریم ﷺ ته:: ۲٤٤
یخې یخې هواګانې اوباران دالله ﷻ د قدرت دلائل دی:- ۲٤۵
ایامړی هم اوری؟:- ۲٤٦
دانسان اصل څه دې:- ۲٤۸
په دنیا کښې هم ددروغوقسمونه اوپه اخرت کښې هم:- ۲٤۹
او ستا مسئله بالکل واضح خو دوئ ضدیان دی:- ۲۵۰
حضورﷺ ته زړه مه خفه کوه دالله تعالی وعده رښتونیې ده ۲۵۱
قران هدایت رحمت اوشفاء ده:- ۲۵۲
ګانې میوزك موسیقی دکافرانوخوی دې او د آیت مطلب اتفاق سره هم ده دې:- ۲۵۲
قران منونکی دپاره زیر:- ۲۵۳
دزمکې اواسمان خالق الله تعالی دې:- ۲۵٤
ایاحضرت لقمان نبی وو:- ۲۵۵
د جمهورو قول دادې چې نبی نه وو:: ۲۵٦
د لقمان حکمت څه وو؟:: ۲۵٦
دحضرت لقمان خپل خوئې ته نصیحت:- ۲۵۸
اول نصیحت شرك مه کوه:: ۲۵۸
دویم وصیت مور پلار سره ښه سلوك کوه:: ۲۵۸
نبی کریم ﷺ چې کله معاذ ؓ امیر جورولو نو هم دغه حکم یې ورته کړې وو:: ۲۵۹
دایمان نه ډك دریم نصیحت:- ۲٦۰
څلورم نصیحت ۲٦۱
پنځم ، شپږم ، اووم نصیحت (..... ۲٦۱
اتم نصیحت (..... ۲٦۱
مرح او تکبر څه ته وائی؟:: ۲٦۱
لسم نصیحت ۲٦۱
یوولسم نصیحت (..... ۲٦۱
دحضرت لقمان نور اقوال زرین:- ۲٦۲

Scanned with Ca

د حبشیانو فضیلت:: ۲۶۲
د تواضع اهمیت فضیلت:: ۲۶۲
د صحابه کرامو او علماء کرامو احوال:: ۲۶۳
دتکبر دمذمت بیان:- ۲۶۵
دفخر اوتکبر دمذمت بیان:- ۲۶۵
دالله تعالی دخپلو نعمتونو اظهار:- ۲۶۷
دالله تعالی فرمانبرداره دالله په حفاظت کښې دی:- ۲۶۷
کله چه خالق الله تعالی دی نومعبود ولی نه دی:- ۲۶۸
دالله تعالی دتعریف نه قلم اوقرطاس عاجزدی:- ۲۶۹
د یهودیانو سوال در رسول کریم ﷺ جواب:: ۲۶۹
دالله ﷻ د کمال قدرت بیان:: ۲۷۰
داورځې اوشپه اوموسمی تغیرات:- ۲۷۰
نمر چرته ځی؟:: ۲۷۰
چپیې وهونکې سمندراوکشتئ:- ۲۷۱
دقیامت په ورځې دځانی ځانئ عالم:- ۲۷۳
د عزیر ﷺ قصه:: ۲۷۳
دغیب دخزانو کنجیانې صرف دالله تعالی په لاس کښې دی:- ۲۷۳
پنځه څیزونه نبی ته هم نه دی معلوم:: ۲۷۴
تفسیرسوره الم سجده مکیه:- ۲۷۵
دسوره سجدې فضیلت:- ۲۷۵
قران کریم صرف دالله تعالی دطرف نه دی:- ۲۷۶
زمکه اواسمان په کوم ترتیب سره جوړ شو:- ۲۷۶
د الله تعالی هریوتخلیق شاهکاردی ۲۷۸
د مرګ فرښتې سره ملاقات ۲۷۸
د مرګ فرښته یوه ده که ډیرې دی؟:: ۲۷۹
دملك الموت د پنځه وخته د راتلو مطلب:: ۲۷۹
د قیامت په ورځ د ګناهګارانو خراب حالت ۲۸۰
دتولو مخلوقاتو په نه مؤمن کولو کښې دالله ﷻ حکمت دی:: ۲۸۱
دالله تعالی د رضا د لتون حکم ۲۸۲
د دوؤ کسانو نه الله ﷻ زیات خوشحالیږی:: ۲۸۲
جنت ته رسولو والاعمل:: ۲۸۳
د ادنی جنتی جنت:: ۲۸۴
په جنت کښې حوری او شغل:: ۲۸۴
په جنت کښې جنتیانو ته تحفې:: ۲۸۵
د جنت درجات:: ۲۸۵
مؤمن اوفاسق برابر نه دی ۲۸۶
د جهنمیانو لاسونه پښې به ترلی وی:: ۲۸۷

Scanned with Ca

ددې نه څه مراد دې؟:: ۲۸۷
دَ معراج په شپه دَ حضور ﷺ دَ حضرت موسی علیه السلام سره ملاقات ۲۸۹
دَ رسولانو دَ مخالفت انجام ۲۹۰
داولې لختی نهرونه آبشارونه اوسمندرونه دَ الله تعالی دَ قدرت نښې دی ۲۹۰
یوه عیبه واقعه:: ۲۹۱
کافرانوته دَ قیامت دَ انتظار حکم ۲۹۲
خطاب نبی ﷺ ته دې او مراد تړې امت دې ۲۹۴
په الله تعالی باندې توکل ساته ۲۹۴
دَ چا نه اخستې شوې حقیقی ځوئ نه شی جوړیدې ۲۹۵
د ایت مبارك شان نزول څوك دی؟:: ۲۹۵
دَ رسول الله ﷺ په خپل امت باندې مهربان کیدل ۲۹۸
د ازواج مطهرات د میندو کیدو مطلب:: ۲۹۹
دَ اولوالعزم پیغمبرانو ۳۰۱
په جنګ خندق کښې دَ الله تعالی دَ نصرت نازلیدل ۳۰۳
دجنګ خندق قصه:: ۳۰۳
خندق د سلمان فارسی رضی الله عنه په مشوره کنستلې شوې وو:: ۳۰۳
کافرانو د احد د غر سره پراؤ واچولو:: ۳۰۳
مدینه منوره کښې بنو قریظه هم معاهده ماته کړه:: ۳۰۴
اخر تیزه هوا راغله چې هغې ته باد صبا وئیلې شی:: ۳۰۴
هوا سره فرښتې هم راغلې:: ۳۰۵
دابو سفیان اعلانونه:: ۳۰۵
حذیفه فرښتې اولیدې:: ۳۰۷
دَ منافقانو دَ جنګ دَ میدان نه تیخته ۳۰۸
یا اهل یثرب ، د یثرب نه مراد مدینه منوره ده:: ۳۰۸
دَ جهادنه دتیختې سزا ۳۱۰
دَ جهادنه تیخته په اصل کښې دَ ایمان نه تیخته ده ۳۱۱
نفاق بزدلی ده ۳۱۲
دَ رسول الله ﷺ ژوندیوه بنکلې نمونه ده ۳۱۲
دربښتونی مؤمنانو د ایمان بیان:: ۳۱۳
د صحابه کرامو د ایمان تعریف:: ۳۱۳
مؤمنانو اوکافرانوکښې فرق ۳۱۴
ددې آیت مبارك شان نزول او تفصیل:: ۳۱۵
په جنګ خندق کښې دَ الله تعالی دَ امداد نازلیدل ۳۱۶
دَ جنګ احزاب په موقع درسول کریم ﷺ دعاء:: ۳۱۷
دبنوقریظه محاصره ۳۱۸
د رسول کریم ﷺ په بنو قریظه د حملې حکم:: ۳۱۸
د بنو قریظه ذلیله کیدل:: ۳۲۰

Scanned with Ca

غزوهٔ خندق کښې د صحابه کرامو بهادری او دسعد ﷺ فیصله:: ۳۲۱
د فیصلې کولو نه پس سعد ﷺ خپله خیمه کښې شهید شو:: ۳۲۲
دَ امهات المؤمنین فضائل ۳۲۳
امهات المؤمنین ته وعظ او نصیحت ۳۲٤
دَ فرمانبردارو دپاره ډبل اجردي ۳۲۷
دَ حضوراکرم ﷺ دَ بیبیانو اداب ۳۲۷
بې دشرعی ضرورت نه دکور نه مه اوځئی: ۳۲۷
یو عجیبه روایت:- ۳۲۸
د رسوم جاهلیت نه پس نور احکام:- ۳۲۸
اهل بیت نه مراد څوك دی؟:- ۳۲۸
دَ اهل بیتو فضیلت او ددې متعلق احادیث ۳۲۹
دَ اهل بیتونه کوم خلق مراد دی؟ ۳۳۱
قرآن پاك د عائشه رضی الله عنها د بسترې نه علاوه د بل چا په بستره باندې نه دې نازل شوې:- ۳۳۱
د حسن ﷺ خطبه:- ۳۳۲
مذکوره آیت مبارك کښې پاکې بیبیانې مراد دې:- ۳۳۲
دَمؤمنانونارینادَ او ښځو فضائل او علامتونه ۳۳۳
ایمان او اسلام جدا جدا دی:- ۳۳۳
دَ پیغمبر ﷺ دَ حکم په وړاندې دَ چاهیڅ اختیار نشته ۳۳٦
دا آیت مبارك د چا باره کښې نازل شوې دې:- ۳۳٦
دجلیبیب قصه:- ۳۳۷
دحضرت زید ﷺ واقعه او دهغه فضیلتونه ۳۳۹
د زید اوزینب جدائی اودرسول کریم ﷺ سره نکاح:- ۳۳۹
دزینب رضی الله عنها خصوصیات:- ۳٤۰
په جائزامورو کښې انبیاء علیهم السلام باندې څه پابندی نه وی: ۳٤۱
دَ انبیاء کرامو صفتونه او ذمه داری:- ۳٤۲
دَ حضور ﷺ اولاد ۳٤۲
حضور اقدس ﷺ آخری نبی دې ۳٤۲
د ختم نبوت متعلق احادیث:- ۳٤۲
دَ نبی کریم ﷺ یوځونومونه ۳٤۳
دَ حضور ﷺ نه پس چه څوك دَ نبوت دعوی اوکړی هغه دروغژن دې ۳٤٤
داصلی او جعلی نبی په مینځ کښې فرق:- ۳٤٤
دالله ﷻ مینه او د مور مینه:- ۳٤۷
دَ حضوراکرم ﷺ اوچت صفتونه ۳٤۸
د نبی کریم ﷺ صفت په توراة کښې:- ۳٤۸
د نبی کریم ﷺ صفت د بنی اسرائیلو د یو نبی په ژبه:- ۳٤۸
علي ﷺ او معاذ ﷺ ته د نبی کریم ﷺ هدایت:- ۳٤۹
که د جماع نه اول طلاق ورکړې شی نوځنګه ده؟ ۳٥۰

Scanned with Ca

د نکاح نه وړاندې هم د طلاق واقع کول صحیح کیږی ۳۵۰
مسلک حنفی:- ۳۵۰
پیغمبر ﷺ ته د ډیروښځو اجازت ۳۵۲
خینې هبه کوونکی ښځې نبی کریم ﷺ رد کړی هم دی:- ۳۵۴
نبی کریم ﷺ دیارلس ښځو سره نکاح کړې وه:- ۳۵۴
آیا دنبی کریم ﷺ په بیبیانو کښې هبه کوونکې هم وه:- ۳۵۵
بغیر د مهر او ولی نه ښځې سره نکاح کول جائز نه دی سوی د نبی نه:- ۳۵۵
پیغمبر ﷺ ته بیبیانې ساتلو کښې اونه ساتلو کښې اختیار دې ۳۵۶
رسول کریم ﷺ به د اختیار باوجود نمبر ایخودو:- ۳۵۷
د ازواج مطهرات ۳۵۷
دویم مطلب:- ۳۵۸
دریم مطلب:- ۳۵۸
څلورم مطلب:- ۳۵۸
د حفصه رضی الله عنها د طلاق واقعه:- ۳۵۹
د پردې د حکم نازلیدل او د پیغمبر ﷺ دکور احترام ۳۶۰
خوراک نه پس خبرو دپاره نه دی ایساریدل پکار:- ۳۶۱
د چانه چه د پردې نه کولو اجازت دې ۳۶۴
د آیت د درود اوسلام معانی او په انبیاؤ دالله ﷺ صلاة ۳۶۵
الله ﷻ په مؤمنانو باندې هم رحمت لیږی:- ۳۶۵
د حضور ﷺ صلاة په مؤمنانو ۳۶۵
په رسول کریم ﷺ باندې درود او الفاظ د احادیثو په رڼا کښې:- ۳۶۵
د سلام الفاظ ۳۶۶
تشهد کښې د درو حکم او په دې کښې اختلاف:- ۳۶۶
د احادیثو خلاصه او د درود حکم:- ۳۷۰
جمات ته د تلواود راوتودعا ۳۷۱
د مانځه په آخری قعده کښې د التحیات درود ۳۷۱
په مانځه کښې د درود شریف لوستلو حکم ۳۷۱
مسلک حنفی:- ۳۷۱
د جنازې په مانځه کښې په حضور ﷺ باندې درودلوستل ۳۷۱
د جنازې په مونځ کښې د سورة فاتحې لوستلو حکم ۳۷۱
مسلک حنفی:- ۳۷۱
د دعا په ختمیدو باندې ۳۷۱
د جمعه په ورځ او د جمعې په شپه درود شریف وئیل:- ۳۷۲
په خطبه کښې د درود شریف وئیلو حکم ۳۷۲
مسلک حنفی:- ۳۷۲
دسلام متعلق نور روایات:- ۳۷۲
د تلبیه په وخت کښې:- ۳۷۳

Scanned with Ca

په صفا باندې ۳۷۳
د ذبح کولو په وخت:- ۳۷۳
مسئله ۳۷۴
د غیر نبی دپاره د ،،علیه السلام،، وئیلو حکم ۳۷۵
مسلک حنفی:- ۳۷۵
الله تعالی رسول ﷺ اومومنانوته تکلیف ورکول گناه ده ۳۷۶
الله ﷻ ته دتکلیف ورکولو مطلب:- ۳۷۶
نبی کریم ﷺ ته تکلیف رسول:- ۳۷۶
صحابه کرامو ته تکلیف رسول بهتان او غټه گناه ده :- ۳۷۶
عامو مسلمانانو ته د تکلیف رسول حکم:- ۳۷۷
مومنانوښځوته دپردې حکم ۳۷۸
کافرانو ښځو ته د کتلو دحرمت وجه:- ۳۷۸
دَ قیامت قایمیدوعلم صرف الله ﷻ ته دې ۳۸۰
کافران دالله ﷻ د رحمت نه لرې دی:- ۳۸۰
دَحضرت موسی علیه السلام یوه عجیبه واقعه اودموسی علیه السلام برات ۳۸۱
بله واقعه:- ۳۸۲
زمونږ نبۍ کریم ﷺ باندې بهتان:- ۳۸۲
مومن له نیغه خبره کول پکاردی ۳۸۳
اول آسمان ، بیا زمکې او بیا غرونو عجز ښکاره کړې وو:- ۳۸۵
آدم علیه السلام قبول کړو:- ۳۸۵
د امامت د ادا کولو مطلب:- ۳۸۵
څلور خبرې:- ۳۸۶
د امانت قسم خوړل:- ۳۸۶
ټول تعریفونه هم د الله ﷻ دَ پاره دی ۳۸۷
قیامت حق دې اوپه دې باندې دالله ﷻ دخپل ذات قسم ۳۸۹
د قیامت راتلو کښې حکمت ۳۸۹
په بیاراپاسیدوباندې دکافرانو توقې ۳۹۱
د کافرانو د خبرې جواب او عقلی دلیل:- ۳۹۱
دَ حضرت داوُد علیه السلام فضیلت ۳۹۲
د داؤد علیه السلام فرښتې سره ملاقات او دهغه نه تپوس:- ۳۹۳
د داؤد علیه السلام بې انتها خو آوازې:- ۳۹۳
په حضرت سلیمان علیه السلام باندې دَ الله ﷻ انعامونه ۳۹۴
د پیریانو او انسانانو قسمونه :- ۳۹۵
د محاریب معنی:- ۳۹۵
دَ حضرت سلیمان علیه السلام دَ مرګ ذکر ۳۹۶
یو منکر روایت :- ۳۹۷
بل روایت:- ۳۹۷

Scanned with Ca

بل روایت:- ۳۹۸
د قوم سبا تذکره ۳۹۹
د تباهئ تفصیل او د سبا متعلق احادیث:- ۳۹۹
د سبا نسب نامه:- ۳۹۹
د ملك سبا بنائست:- ۴۰۰
ملك سبا ته دولس پیغمبران راغلی وو:- ۴۰۰
دَسباپه قوم باندې دالله تعالی نور انعامونه ۴۰۱
دملك سبا د یو کاهن قصه:- ۴۰۲
دا کاهن څوك وو؟؟ ۴۰۲
دَ شیطان دهوکه ۴۰۴
ټول اختیارات هم الله ﷻ سره دی:- ۴۰۵
د مسلمانانو اوکافرانو مینځ کښې لوئې فرق دې:- ۴۰۸
پیغمبر ﷺ نذیر اوبشیردی ۴۱۰
درسول کریم ﷺ بهتری په ټولو انسانانو ده: ۴۱۰
د منکرینو د قیامت سوال اودهغې جواب:- ۴۱۰
دَ کافرانو نه منل اوسرکشی ۴۱۲
رسول الله ﷺ ته تسلی ورکول ۴۱۴
هره زمانه کښې د نبی تابعدران کمزوری خلق وی:- ۴۱۵
هر قل هم دابوسفیان نه دغه شان سوال کړې وو:- ۴۱۵
مال او اولاد نه بلکه ایمان او عمل د کامیابی نخښه ده:- ۴۱۶
دانفاق فی سبیل الله فضیلت:- ۴۱۷
بد ترین خلق:- ۴۱۷
د قرآن پاك د منکرینو د خباثتونو ذکر او دهغوئ انجام ۴۱۹
پیغمبر ﷺ مجنون نه دی ۴۲۰
ددې نه مونځ مراد اخستل صحیح نه دی:- ۴۲۱
رسول کریم ۴۲۱
د رسول کریم ﷺ اود امت مثال:- ۴۲۱
پیغمبر ﷺ د انسانیت محسن دی ۴۲۲
دقیامت په ورځ به تیښته پښیمانتیا او اقرار هیڅ نفع نه ورکوی ۴۲۴
الله تعالی په هرڅیز باندې غالب دی ۴۲۸
دَ الله ﷻ په نعمتونوسره د الله ﷻ پیژندګلو ۴۲۹
شیطان دخلقو بنکاره دښمن دی ۴۲۹
د شیطان ددهوکې بیان:- ۴۳۰
دشیطان منونکو له عذاب او نه منونکو له جنت ۴۳۱
د بیا راپورته کیدو مثال:- ۴۳۳
کلمه او نیك اعمال په برخې او ګناهونه بهٔ لاندې راځی:- ۴۳۳
د انسان پیدائش دالله تعالی د کمال علم ذکر:- ۴۳۴

Scanned with Ca

د نقص عمر او زیادت مطلب:- ٤٣٤
دَورځې اوشپې پیداکول دَ ٤٣٧
دالله ﷻ نه سوا هر څوك عاجز او بې خبر دی:- ٤٣٧
الله تعالی ټول فناکولوباندې قادردې ٤٣٨
ژوندی اومړه برابرنه دی ٤٤٠
د انبیاء کرامو بعثت د عذر ختمولو دپاره شوې دې:- ٤٤١
مختلف رنګونه هم دالله ﷻ قدرت دې ٤٤١
حقیقی عالم څه ته وائی ؟:- ٤٤٢
علماء کرامو قسمونه:- ٤٤٢
دَمؤمنانوصفتونه ٤٤٤
قرآن پاك دَ ٤٤٤
په قرآن پاك باندې عمل کونکې خلق او دهغوئ دري قسمونه ٤٤٤
ددین په طلب کښې د وتونکی فضیلت:- ٤٤٧
په جنتیانوباندې انعامونه ٤٤٨
دنیا کښې سړۍ زر او ریښم استعمالولونکی به جنت کښې ددې نه محروم وی:- ٤٤٨
دَ دوزخیانوسزا ٤٤٩
طویل عمر هم په انسان حجت وی:- ٤٥٠
د رسول کریم ﷺ عمر مبارك څومره وو؟:- ٤٥١
د نذیر څه مطلب دی؟:- ٤٥١
د الله ﷻ د کامل علم بیان ٤٥٣
باطلومعبودانوهیڅ هم نه دی پیداکړی ٤٥٣
ددې متعلق یو منکر حدیث:- ٤٥٣
دَ کافرانودَهدایت قبلولوقسمونه خوړل ٤٥٥
د دهوکه بازو نه خان ساتنی ددوئ انجام خراب وی:- ٤٥٥
دَ تیروشوو قومونودَ انجام نه عبرت واخلئی ٤٥٦
دَ سورت یاسین فضیلت ٤٥٧
ددې څه مطلب دې؟:- ٤٥٨
دَ کافرانودَ نه منلوتذکره اودَ هغوی انجام ٤٥٩
ددې مبارك شان نزول:- ٤٥٩
د نبی کریم ﷺ بیان په مؤمن اثر کوی په کافر نه کوی:- ٤٦٠
دویم حدیث ٤٦١
دریم حدیث ٤٦١
څلورم حدیث ٤٦١
د امام مبین مطلب:- ٤٦٢
دَ یوکلی والوواقعه ٤٦٣
د قوم د منلو نه انکار او اعتراض او د هغوئ جواب:- ٤٦٣
کافرانوبه دَ رسولانومتعلق بدګمانی کوله ٤٦٤

Scanned with Ca

داسې بدفالی فرعونیانو هم کړې وه:: ٤٦٥
د صالح ﷺ قوم هم داسې فد فالی کړې وه:- ٤٦٥
دَحضرت حبیب ذکر ٤٦٥
د حبیب د قوم په وړاندې د توحید بیان ٤٦٦
دَ مؤمن دَ پاره د جنت زیری ٤٦٧
عروه بن سعود ﷺ هم دغه شان شهید کړې شو:: ٤٦٨
دحبیب بن زید قصه:: ٤٦٨
د هغه قوم د هلاکت بیان:: ٤٦٩
دا دې رسولان وو د عیسی ﷺ قاصدان نه وو:: ٤٦٩
دَ انبیاءکرامو ٤٧١
دَ الله تعالی دَ وجود یوعظیم الشان ننبه ٤٧٢
دَ یوې بلې ننبې ذکر ٤٧٣
د ابن مسعود ﷺ قرات او د دهغه مطلب:: ٤٧٥
دسپورمۍ منزلونه او د هغې حکمتونه:: ٤٧٥
د ادراك قمر مطلب:: ٤٧٦
کشتئی اودَ الله تعالی قدرت ٤٧٧
منکرالله دهرې خبرې نه مخ اړوی ٤٧٨
کافر دالله تعالی په لار کښې خرچ نه کوی:: ٤٧٨
دقیامت منکران ٤٧٩
ددویمې شپیلې وخت ٤٨٠
قبر ته مرقد دآرام ځائې وئیل د قیامت د سختئ نسبت دې:: ٤٨١
په جنتیانوباندې انعامونه ٤٨٢
دجنت تعریف او دهغه خواهش:: ٤٨٢
جنت کښې به د هر طرفنه سلام وی و رب به پرې هم سلام کوی:: ٤٨٢
جنتیانو سره دالله تعالی کلام:: ٤٨٣
قیامت کښې به مجرم او غیر مجرم جدا جدا شی:: ٤٨٣
جهنم به هم داسې اعلان اوکړی:: ٤٨٤
دمجرمانوخولې به بند کړئ شی ٤٨٥
قیامت کښې الله ﷻ سره د انسان جګړه او د اندامونو ګواهی:: ٤٨٥
قیامت کښې به مؤمن د ګناهونو اعتراف کوی او کافران به انکار کوی:: ٤٨٦
خوانی اوبود اوالی ٤٨٧
دځنارو پیدائش او تابع کول دالله ﷻ په بندګانو باندې انعام:: ٤٩١
الله تعالی هرڅه کوی او ددوئ معبودان هیڅ نشی کولې ٤٩١
چاچه مخکښې پیداکړل هغه مړی هم ژوندی کولې شی ٤٩٢
ابن آدم ته دالله ﷻ خطاب:: ٤٩٢
دپخوا زمانې د یو سړی د تعجب واقعه:: ٤٩٣
دالله تعالی دقدرت مشاهده ٤٩٣

Scanned with Ca

دزمکې اواسمان خالق ښځې اوسړی بیاپیدا کولې شی: ٤٩٤
هر وخت د الله ﷻ نه معافی غوښتل پکار دی:: ٤٩٤
دتهجدو دعاګانې:: ٤٩٥
دفرښتوقسمونه اوددې قسمونه: ٤٩٦
ستوری داسمان ځکلاده: ٤٩٧
شهاب ثاقب: ٤٩٧
دشیطان اسمان ته د ختلو سلسله وه بیا ختمه شوه:: ٤٩٨
دانسان پیدائش او د قیامت منکر ته رټنه: ٤٩٩
منکرینو ته جواب:: ٤٩٩
دقیامت دورځې چغې: ٥٠٠
دکافرانوپه دوزخ کښې طبقې او یو دبل ملامته کول: ٥٠٢
دویم قول چې انسانان به پیریانو ته دا خبرې کوی:: ٥٠٢
ددوئ د دنیا حالت دا وو:: ٥٠٢
په قیامت کښې د مختلفو ډلو رابلل او د هغوئ نه سوال:: ٥٠٣
کافران په عذاب اومومنان په نعمتونو کښې: ٥٠٤
ددې متعلق یو حدیث:: ٥٠٤
د شرابو څلور خرابئ:: ٥٠٥
جنتیان به ددنیادژوندذکرکوی: ٥٠٦
جنتیان چې اوغواړی نو جنت نه به جنتیان لیدې شی:: ٥٠٧
دزقوم ونه: ٥١٠
د زقوم خوراك:: ٥١٠
دنیکانوښه انجام: ٥١١
دنوح ﷺ واقعه او ددۀ قوم:: ٥١٢
دحضرت ابراهیم ﷺ ذکر: ٥١٣
دحضرت ابراهیم بتان ماتول: ٥١٤
د ابراهیم ﷺ د دریو دروغو مطلب:: ٥١٥
دحضرت ابراهیم ﷺ حضرت اسماعیل ﷺ ذبح کول: ٥١٨
پلار او خوئې دواړه دالله ﷻ حکم ته تیار شو:: ٥١٩
د کار کیدو په وخت کښې حکم منسوخ شو:: ٥٢٠
د ابن عباس ﷺ فتوی:: ٥٢١
هغه خبرې چې د اسماعیل ﷺ ذبیح الله کیدلو دلیل دې:: ٥٢٢
دابن جریر دلیل چې ذبیح الله اسحاق ﷺ دې:: ٥٢٢
دابن عباس ﷺ دلیل:: ٥٢٣
دحضرت موسی ﷺ اوحضرت هارون ﷺ ذکر: ٥٢٤
دحضرت الیاس ذکر: ٥٢٥
دحضرت لوط ﷺ ذکر: ٥٢٧
دیونس ﷺ ذکر: ٥٢٧

Scanned with Ca

د یونس ﷺ د مهی په خیټه کښې سجده او دعا:: ۵۲۸
د یونس ﷺ ددعا متعلق حدیث:: ۵۲۸
دکدو د ونې فائدې:: ۵۲۸
دمشرک بې وقوفی چه فرشتې دالله تعالی لونړه دی: ۵۳۰
د مشرکانو دري کفرونه او دري دروغ:: ۵۳۰
دمشرکانوانجام: ۵۳۱
زمونږ مونځونو کښې صف بندی:: ۵۳۲
د کافرانو د یوې خبرې تردید:: ۵۳۲
دالله لشکرغالب، همیشه غالب وی: ۵۳۳
کفارو ته رټنه او په دوئ باندې تعجب:: ۵۳۴
حمد دالله اوسلام په پیغمبرانو: ۵۳۴
د قرآن پاك په عظمت او فضیلت باندې د منکرینو رټنه او ویره:: ۵۳۵
د رسالت دمنکرینو تعجب او دهغه جواب؟ ۵۳۷
ددې آیتونو دنزول وجه:: ۵۳۸
دالله تعالی قدرت: ۵۳۹
هم دا خبره د صالح ﷺ قوم هم کړې وه:: ۵۳۹
دکافرانوپه خندابانديې صبرکوئ: ۵۴۰
حضرت داؤد ﷺ باندې دالله تعالی احسانونه او اید تفسیر: ۵۴۱
د اشراق او څاښت مونځ فضیلت:: ۵۴۲
د باطنی قوت سره ظاهری قوت هم ، یوه عجیبه واقعه:: ۵۴۲
دحضرت داؤد ﷺ مشهوره فیصله اودې کښې اسرائیلی خبرې: ۵۴۴
قیامت کښې د داؤد ﷺ مرتبه:: ۵۴۵
بادشاهان دالله تعالی دحکم پابنددی: ۵۴۶
الله تعالی یوځیزهم بې کاره نه دې جوړکړې: ۵۴۷
دحضرت سلیمان ﷺ واقعه: ۵۴۸
داؤد ﷺ نه سوالات اودهغوئ ﷺ جوابات:: ۵۴۸
د سلیمان ﷺ او د نبی کریم ﷺ د مازیګر مونځ قضا کیدل:: ۵۴۹
د جنګ په وخت کښې د مونځ حکم:: ۵۴۹
دحضرت سلیمان ﷺ ازمیښت اواختیار او اسرائیلی بې بنیاده روایات: ۵۵۱
ددې صحیح مطلب او ددې متعلق احادیث:: ۵۵۴
د سلیمان ﷺ دري دعاګانې:: ۵۵۵
د داؤد ﷺ د سلیمان ﷺ په حق کښې دعا:: ۵۵۶
رسول کریم ﷺ ته اختیار او د نبی کریم ﷺ جواب:: ۵۵۶
دحضرت ایوب ﷺ ذکراودهغه بیماری: ۵۵۷
دایوب ﷺ متعلق یو روایت:: ۵۵۷
د ایوب ﷺ د قسم متعلق احادیث:: ۵۵۸
دحضرت ابراهیم ﷺ اودحضرت اسحاق ﷺ ذکر: ۵۶۰

Scanned with Ca

د جنت نعمتونه ۵۶۰
د جنت اته دروازې دی :: ۵۶۰
د دوزخ سختیانې: ۵۶۲
غساق څه څیز دې :: ۵۶۲
د دوزخیان یو بل سره جنګ:: ۵۶۲
د نبی کریم ﷺ باره کښې د کافرانو غلط خیال او دهغه جواب:: ۵۶۴
د نبی ﷺ یو خانسته خوب ۵۶۴
د آدم علیه السلام د پیدائش ذکر: ۵۶۶
د نبي کریم ﷺ د صداقت او حقانیت بیان: ۵۶۷
د قرآن پاك د حقانیت بیان: ۵۶۹
الله تعالی مالك اودعبادت لائق دي ۵۶۹
د یوې غلطې عقیدې وضاحت: ۵۷۰
د مشرکانو پشان د دیهودیانو او نصرانیانو عقیده:: ۵۷۰
دالله تعالی قدرتونه: ۵۷۱
الله ﷻ بې احتیاجه او مخلوق محتاج دې:: ۵۷۳
د انسان د ناشکرئ بیان:: ۵۷۳
د علم والاوبې علمه برابرنه دی: ۵۷۴
د صبر اجر به بې حسابه وی: ۵۷۶
د الله ﷻ د وحدانیت اعلان او د شرك نه بیزاری:؟ ۵۷۶
د ایت مبارك شان نزول خاص دی او حکم یې عام دې:: ۵۷۷
نبی علیه السلام هم کافران د جهنم نه نشی خلاصولې : ۵۷۸
اوبه دالله تعالی د قدرت ښه ده: ۵۸۰
د مشابه او مثان تفسیر: ۵۸۱
دالله تعالی په ایتونوباندې دمومنانوزړونه رپیږی ۵۸۱
د اولیاء الله صفات:: ۵۸۲
دمنکرانودپاره سخت عذاب: ۵۸۳
قران کښې مثالونه: ۵۸۴
د مؤمن او مشرك مثال:: ۵۸۴
دې آیت مبارك سره د رسول کریم ﷺ په مرګ باندې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه استدلا: ۵۸۴
قیامت کښې به تولې جګړې فیصله کیږی:: ۵۸۵
دتولونه غټ ظالم څوك؟:- ۵۸۸
دمومن دپاره الله ﷻ کافی دې:- ۵۸۹
د ناشکرئی انتها:: ۵۹۰
د طاقت سرجشمه ، توکل علی الله :: ۵۹۰
ګمراه کیدونکې خپل نقصان کوی:- ۵۹۲
وفات کبری او صغری دواړه دالله ﷻ په قبضه کښې دی:: ۵۹۲
دعقل اوشعورنه خلاص خلق دالله ﷻ سره شرك کوی:- ۵۹۳

Scanned with Ca

دقیامت په ورځ به اختلافاتوفیصله اوشی:..... ۵۹۴
قیامت کښې به مشرکانو ته هیڅ هم پکار نه ورځی:..... ۵۹۵
تنګی اواسانی دازمیښت دپاره دی:- ۵۹۷
دالله ﷻ دطرف نه دتوبې عام دعوت:- ۵۹۸
شرك بې د توبې نه نه معاف کیږی:: ۵۹۸
دیو کم سلو کسانو د قاتل قصه:: ۵۹۹
دقران څوجامع ایتونه:_ ۵۹۹
دخفګان اونا امیدئ نه منع:- ۵۹۹
د مایوسئ ختمولو نه پس ترغیب:: ۶۰۰
کبرکونکی په دوزخ کښې او ددوئ بد حالت:: ۶۰۱
دهرقدرت مالك الله ﷻ:- ۶۰۳
د مشرکانو د رسول کریم ﷺ نه مطالبه او نبی کریم ﷺ جواب:: ۶۰۳
مشرکانودالله ﷻ مقام نه پیژندلیې:- ۶۰۴
دقیامت سختئ:- ۶۰۵
دټولو نه اول به اسرفیل ﷺ ژوندې کیږی:: ۶۰۶
ددوزخیانو بدل حالت او ددوئ نه دجهنم دځوکیدارانوسوال:_ ۶۰۸
د کافرانو جواب او اقرار:: ۶۰۸
دجنتیانوهرکلې اودجنت درجات:- ۶۰۹
دجنتیانودخائست یومنظر:- ۶۱۰
د اویا زرو بې حسابه جنت ته داخلیدو والاحدیث:: ۶۱۰
فتحت کښې واؤ کوم یو واؤ دی؟:: ۶۱۰
دجنت د دروازو او د جنت د وسعت بیان:- ۶۱۱
جنتیانوباندې دانعامونوباران: ۶۱۲
د الله ﷻ د عظمت او لویئ بیان:: ۶۱۳
د الم او حم والاسورتونه او د سلفو اقوال ۶۱۴
دعذاب اوثواب مالك الله ﷻ دی:- ۶۱۵
پحق خبره کښې شکونه پیداکول دکافرانوکاردی:- ۶۱۷
د عرش اوچتونکی فرشتې دمومنانودپاره دعاکوی:- ۶۱۸
دګناهګارانوددوزخ په خواه کښې خراب حالت: ۶۲۱
دنیاته د راتلوناکامه غوښتنه ۶۲۱
دالله ﷻ د قدرت دلائل:: ۶۲۲
د قیامت په ورځ به د الله ۶۲۳
د قیامت د سختو بیان او د ازفه مطلب ۶۲۵
د سترګوخیانت اود سینې راز ۶۲۶
د نافرمانه قوم انجام ۶۲۸
د موسی ﷺ د قتل فرعونی منصوبه ۶۲۸
د یونالیدلی مومن مجاهدانه اقدام ۶۳۰

Scanned with Ca

د کامل مومن خبرې اتري ۶۳۴
قیامت کښې به خلق د تښیتې کوشش کوی:: ۶۳۵
د فرعون مکر اوفریب ۶۳۶
د ناپیژند گلومومن دویم نصیحت ۶۳۸
مشرکانوته د توحید دعوت ۶۳۸
د برزخ اوقبرعذاب ۶۳۹
دوزخ کښې د دوزخیانوجنګ جګړې ۶۴۲
د رسولانو امداد کونکې هم الله ۶۴۴
د حضرت مصطفی ﷺ دعوت په ټوله دنیاکښې خورشو ۶۴۵
قیامت کښې به هم نصرت وی:: ۶۴۶
د قیامت نه انکار آخر ولې ؟ ۶۴۷
ددعا اهمت او دعاځوک قبلوی ۶۴۷
الله یغضب ان ترکت سواله ..... وابنو آدم حین یسال یغضب ۶۴۷
د الله تعالی د بې شمیره نعمتونوتذکره ۶۵۰
مشرکانو اعلان د غیر الله نه براءت او په دې باندې دلیل ۶۵۲
د انبیاءکرامو دتکذیب کونکو عبرتناك انجام ۶۵۳
په جهنم کښې توري وریځې او دهغې باران:: ۶۵۴
صبراوکړئی فتح به هم ستاسو وی ۶۵۶
موجوده مشرکانوته خبرداری ۶۵۸
عذاب کتلوسره د ایمان راوړلوځه فائده؟ ۶۵۸
د قرآن پاك منکرینو ته رټنه ۶۵۹
دتوحیداورسالت بیان:: ۶۶۲
زمکه اوآسمان په کوم ترتیب سره پیداکړې شو ۶۶۵
آسمان او زمکې ته د ارتلو حکم او ددې مطلب:: ۶۶۶
د حق نه د مخ اړولوانجام ۶۷۰
د عادیانو سرکشي او غرور:: ۶۷۰
د قیامت په ورځ د بدن د اندامونوګواهی ۶۷۱
د مشرکانو ملګری ۶۷۴
قرآن پاك په خاموشئی سره اوریدل پکاردی ۶۷۵
د استقامت معنی اومفهوم ۶۷۶
د مرګ په وخت کښې فرښتې مومن ته د جنت زیرې اوروی ۶۷۷
د جنت بازار اود الله تعالی دیدار ۶۷۷
څوك چې دالله تعالی ملاقات غواړی نو الله دهغه ملاقات غواړی:: ۶۷۸
د ټولونه ښه دعوت د چا دې ؟ ۶۷۹
د مؤذن د فضیلت احادیث:: ۶۷۹
ورځ شپه نمر سپوږمئی هغه جوړکړی دی ۶۸۲
ملحدینو ته رټنه او دعذاب نه ویره ۶۸۳
د قرآن پاك ژبه عربی ولې ده؟ ۶۸۴
کافر ته د خپل عمل بدله او مسلمان ته دخپل عمل بدله:: ۶۸۶
د قیامت او د هرشیز علم الله ﷻ سره دې ۶۸۷
دانسان خودغرضی:: ۶۸۹
د قرآن د حقانیت نه انکار :: ۶۹۰
ددې آیت مبارك نه څوك مراد دی؟:: ۶۹۰
دحروف مقطعات بحث او د ۶۹۲

Scanned with Ca

په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې وحی کیفیت:..... ۶۹۳
د الله تعالی د عظمت دشان بیان: ۶۹۳
د مکې معظمې فضیلت او د قیامت اجتماع..... ۶۹۴
خالق او معبود هم هغه دې:..... ۶۹۷
د ټولو نبیانو علیهم السلام مشترکه دتوحید دعوت: ۶۹۸
د ټولو انبیاء کرامو عقیده یوه او شریعت جدا جدا وو:..... ۶۹۹
لس مستقل کلمې: ۷۰۰
بیان د بطلان د دلیل دمنکرینو ۷۰۱
کافران د قیامت نه نه پریږی: ۷۰۲
د آخرت طالب اود دنیا طالب:..... ۷۰۳
مشرکان د خپل غټانو ایجاد کړې شوې شریعت منی : ۷۰۴
قیامت دپاره یو وخت مقرر دې:: ۷۰۴
د مودة فی القربی مفهوم :..... ۷۰۶
ددې آیت مبارک شان نزول څه دې؟:..... ۷۰۶
د اهل بیت په شان کښې خطبه :..... ۷۰۸
دنکیږ هومره بدله :..... ۷۰۹
رښتنی توبه ګناهونه ختموی: ۷۱۰
الله تعالی د خپل بنده په توبه ډیر خوشحالیږی:..... ۷۱۱
دمعاذ ﷺ خطبه:..... ۷۱۱
په دریابونو کښې دکشتو آمدورفت..... ۷۱۵
د دنیا مذمت : ۷۱۶
اهل علم سره مشوره کول ۷۱۷
د چا تکلیف رسولو باندې بدله او معافی : ۷۱۹
دظلم بدله اخستل جائز دی : ۷۱۹
الله ﷻ چې څوک ګمراه کړی نو هغه څوک نشی په لار کولې: ۷۲۱
دجهنم په لیدو د مشرکانو ارمان:..... ۷۲۲
ظالمان به دوزخ سره حیرانه اوپریشانه وی ۷۲۲
د دوزخ نه د بچکیدو تدبیر ۷۲۳
د نبی کریم ﷺ په ذمه صرف رسونه ده:..... ۷۲۳
هر قسمه پیدائش د الله په اختیار کښې دې : ۷۲۵
دمخلقو څلور قسمه پیدائش:..... ۷۲۵
د وحی مختلف صورتونه : ۷۲۵
د قرآن نورانیت اوعظمت : ۷۲۷
نبی کریم ﷺ ته تسلی:..... ۷۲۷
خالق کل بس یو الله دې : ۷۲۹
په سورلۍ باندې د سوریدو دعاګانې: ۷۳۰
د مشرکانو خود ساخته تقسیم : ۷۳۲
دښځې فطری کمزوری : ۷۳۲
دپلارنیکه غلط تقلید کول:..... ۷۳۴
شرک بالکل ختمول ابراهیم ﷺ سنت دی:: ۷۳۶
مشرکانو صرف د خپل ضد په وجه انکار اوکړو:..... ۷۳۷
دالله ﷻ ذکر نه دغفلت نتیجه:..... ۷۴۰
دقبر نه د راپورته کیدو په وخت کښې به کافرانو سره شیطان لګیدلې وی:..... ۷۴۰
حضرت موسی ﷺ دلائلو او براهینو سره فرعون طرفته :..... ۷۴۲

Scanned with Ca

دفرعون سرکشی او تکبر:: ۷۴۴
ددوی داعتراض څه وجه ده ؟:: ۷۴۴
دمشرکانوکوم معبودان جهنمیان دی او د ایت د نزول قصه:: ۷۴۷
د هر امت د هلاکت او گمراهئ غټ سبب مجادله او د تقدیر نه انکار وو:: ۷۴۸
دقیامت په ورځ به دغیر الله دوستی په دښمنئ کښې بدله شی :: ۷۵۱
متقیان به د قیامت په ورځ د هرې ویرې او هیبت نه په امن کښې وی:: ۷۵۲
د ادنی جنتی درجه او د زړۀ خواهش پوره کیدل:: ۷۵۲
دوزخ اوددوزخیانوحشر:: ۷۵۴
د جهالت او خباثت انتها شرک دې :: ۷۵۶
دالله ﷻ دنورو قدرتونو بیان:: ۷۵۷
دسورۀ دخان تفسیر ۷۵۸
شب قدر په رمضان کښې دې په شعبان کښې نه:: ۷۵۹
لوګې په کافرانو : ۷۶۱
پنځه څیزونه واقع شوی دی :: ۷۶۱
دقیامت لوګې:: ۷۶۲
د قیامت ننبې:: ۷۶۲
د عذاب راتلو په وخت کښې دکافرانو فریادونه:: ۷۶۳
دقبطیانو انجام:: ۷۶۶
په بنی اسرائیلو د الله ﷻ احسانات:: ۷۶۸
دتبع دبادشاه قصه : ۷۶۹
د تبع درالحکومت کوم ځائې وو؟:: ۷۷۰
دتبع نومونه او ددۀ بادشاهی:: ۷۷۱
صنعاء کښې د دوۀ ښځو قبر:: ۷۷۱
د زمکې او اسمان په پیدائش کښې د حکمت بیان:: ۷۷۲
دمنکرینودقیامت خطرناکه سزا او د شجر زقوم بیان:: ۷۷۳
جنتی خوراک او لباس ۷۷۵
قیامت کښې به مرګ ذبح کړې شی:: ۷۷۵
دقران پاک صداقت:: ۷۷۶
د الله تعالی د قدرتونو بیان:: ۷۷۷
قران پاک دتوهین نه بچ کړئی :: ۷۷۹
انسان باندې دالله ﷻ احسانات:: ۷۸۰
بنی اسرائیلوباندې انعامات :: ۷۸۲
مؤمن او کافربرابرنشی کیدې :: ۷۸۳
اصل دین څلور څیزونه دی ۷۸۳
د فلاسفرانو د نظریې رد :: ۷۸۵
زمانې ته کنځل مه کوئی ۷۸۵
قیامت کښې به باطل په نقصان کښې وی ۷۸۶
قیامت کښې به هره ډله هر کس خپلې عمل نا مې ته رابللې شی:: ۷۸۷
دقیامت په ورځ به ریښتونې فیصلې کیږی:: ۷۸۹
قیامت کښې دالله ﷻ بنده ته انعامات وریادول:: ۷۹۰
د قیامت سزا به په څه وجه وی؟:: ۷۹۰
آخر کښې دالله ﷻتعریفونه او لوئی:: ۷۹۰

Scanned with Ca

آیاتونه	سورة الشعراء مکیة وهی مائتان وسبع وعشرون آیة واحد عشری رکوعا	رکوع ګانې
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
﴿۲۶﴾	شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان زیات رحم کونکې دې	﴿۱۱﴾

طٰسٓمٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ② لَعَلَّكَ بَاخِعٌ

ط س م | دا | آیتونه دکتاب | صفا بیانونکی دی | شاید چې ته | هلاکونکې نې |

ط س میم ، دادیو واضح کتاب آیتونه دی | داسې ښکاری چې

نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ③ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ

دخان خپل اپه دې چې نۀ کیږی دوئ | ایمان راوړونکی | که اوغواړو مونږه | نو نازل به کړو مونږه |

ته ددې خلقود ایمان نه راوړ په غم کښې خپل ژوند بائیلې | که مونږ اوغواړو نو دوئ ته

عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ④

په دوئ باندې | د آسمان نه | یوه نښه | نوشی به | څټونه ددوئ | هغه نښې ته | غاړه ایښودونکی

بۀ د آسمان نه یوه لویه نښه راولیږو | .....نو ددوئ څټونه بۀ ورته ټیټ شی

وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ

اونۀ راځی دوئ ته | یو نصیحت | د طرفه درحمان نه | نوې | مګر | وی دوئ | دهغې نه |

اودوئ ته چې کله هم د رحمان ذات د طرفه څه نصیحت راغلې دې | نو دوئ ترینه

مُعْرِضِيْنَ ⑤ فَقَدْ كَذَّبُوْا فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا

مخ اړونکی | اوس دروغ اوګنړو دوئ (دا) | پس زر به راشی دوئ ته | خبرونه (حقیقت) | دهغه څیز

مخونه اړوی | نو ددوئ خو (قرآن) دروغ اوګنړلو | ډیر زر به ورته دهغې حقیقت معلوم شی

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑥ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ

چې وۀ دوئ | چې په هغې پورې | به نې ټوقې کولې | آیا نۀ ګوری دوئ | دې زمکې ته | چې څومره

چې دوئ به ورپورې خندګانې کولې | ..... آیا دوئ زمکې ته نه ګوری | چې مونږ

اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ⑦ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

زرغونه کړی دی مونږه | په دې کښې | دهر قسم نښه ښۀ (بوټونه) | بیشکه | په دې کښې |

په دې کښې څومره ښه بوټی رازرغون کړی دی | یقیناً په دې کښې (خلقو دپاره)

لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ⑧ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

خامخا یوه نښه ده | اونۀ دی | اکثر ددوئ نه | ایمان راوړونکی | او بیشکه رب ستا | خامخا هغه

نښه ده | .....اوپه دې اکثر خلق ایمان نه راوړی | اوبیشکه ستا رب

الْعَزِيزُ	الرَّحِيمُ ﴿٩﴾ ع	وَإِذْ	نَادَىٰ	رَبُّكَ	مُوسَىٰ	أَنِ ائْتِ	الْقَوْمَ
غالب دي	مهربانه دي	او کله چې	آواز اوکړو	رب ستا	موسی ته	چې لاړشه ته	قوم
غالب مهربان دي	اوهغه وخت (یاد کړه چې) ستارب موسی علیه السلام ته آواز اوکړو					چې ته دغې	

قوله تعالی:- طٰسٓمٓ ﴿١﴾

(لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ)**نبی کریم صلی الله علیه وسلم تسلی ده:-** دمالك رحمه الله روایت شوی تفسیر کښې ددې نوم سورۀ جامعه دي.دحروف مقطعه بحث دسورۀ بقره دتفسیرپه شروع کښې تیرشوې دي.بیا فرمان دي چه داآیاتونه د قرآن مبین دی.چه دا ډیرواضحه بالکل صفا اودحق اوباطل، ښه اوبد په مینځ کښې فیصله اوفرق کونکې دي.ددې خلقوایمان نه راوړلوسره (اې نبی ﷺ) تاسومه خفه کیږئ.لکه چه بل ځائې ارشاددي ﴿فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ﴾ ته ددوی په ایمان نه راوړلوباندې غم اوافسوس مه کوه.په بل آیت کښې دی(لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ)چرته داسې اونه شی چه ته دوی پسې خپل ځان هلاك کړې.چونکه مونږدا نه غواړو.چه خلقوباندې په ایمان زبردستی اوکړئ.که دامونږ غوښتلې نوځه داسې ځیزیه مود آسمان نه نازلولې چه دوی به په ایمان راوړلوباندې مجبوره کیدل.خومونږ ددوی اختیاری ایمان غواړوپه بل آیت کښې دی﴿وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا﴾که ستارب غوښتلې نودمخ د زمکې ټول خلق به مؤمنان شوی وو.آیاته به په خلقوباندې زبردستی کوې؟ چه ترڅو پورې دوی مؤمنان نه شی.په بل آیت کښې دی که ستارب غوښتلې نوټول خلق به ئې یوامت جوړکړې وې.دا اختلاف ددین او مذهب هم دهغه مقررکړې شوې دي.اوددې حکمت ښکاره کونکې دي.هغه رسولان راولیږل، کتابونه ئې نازل کړل.خپل دلیل اوحجت ئې قائم کړو.انسان ئې په ایمان راوړلو اونه راوړلوکښې اختیارمند کړواوس چه په کومه لاره دې غواړی روان دې شی.چه کله هم یوآسمانی کتاب نازل شو.ډیروخلقو د هغې نه مخ واړولو.ستا دپوره آرزو باوجود به اکثرخلق بیاهم بې ایمانه وی.

قوله تعالی:- فَقَدْ كَذَّبُوا فَسَيَأْتِيهِمْ أَنبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦﴾

د آقادروغژن کښړونکونه به انتقام اخستلې شی:په سورۀ یسین کښې ئې اوفرمائیل.په بندګانوباندې افسوس دي.دوی ته چه څوك هم رسول راغې دوی دهغۀ پورې ټوقې اوکړلې.په بل آیت کښې دی.چه مونږپرله پسې پیغمبران اولیږل لیکن کوم امت ته چه دهغوی رسول راغې.هغوی دخپل رسول په دروغژن ګنړلوکښې کمی اونکړلو.دلته ئې هم ددې نه پس فرمائیلی دی.ددې نبی آخرالزمان ﷺ قوم هم هغۀ لره دروغژن کړې دي.دوی ته به هم ددی بدله ډیرزر ملاوشی.دې ظالمانوته به ډیره زرمعلومه شی.چه دوی په کومه لاره روان دی.بیاخپل شان وشوکت،قدرت اوعظمت،عزت او رخصت بیانوی.چه دچاکلام ته، اودچا قاصدته چه تاسو دروغژن وایئ.هغه دومره لوئی قدرت والا اوقیوم دې.چه هم هغه داټوله زمکه جوړه کړې ده.اوپه دې کښې ئې ساه لرونکی اوبې ساه ځیزونه پیداکړی دی.فصلونه، میوې، باغونه اوګلونه ټول دهغۀ پیداوښت دي.شعبی رحمه الله فرمائی.چه خلق دزمکې پیداوار دي.په دی کښې چه کوم جنتیان دی هغه عزت منددی.اوکوم چه دوزخیان دی هغه ذلیل دی(۱)په دې کښې د قدرت دخالق ډیرې نخښې دی.چه هغه فراخه زمکه او اوچت آسمان پیداکړو.ددې باوجود هم اکثر خلق ایمان نه راوړی.بلکه الټه دهغۀ نبیانوته دروغژن وائی.دهغۀ کتابونه نه منی.دهغۀ دحکمونوخلاف کوی.دهغۀ منع کړې شوی کارونوکښې شوق ساتی.بیشکه ستارب هرځیزباندې غالب دي.دهغۀ په وړاندې مخلوق عاجزدي.بیاهم هغه په خپلوبندګانوباندې مهربان دي.دنافرمانو په عذاب کښې جلتی نه کوی.

---

(۱) الدرالمنثور: ۲۸۹/۶.

Scanned with Ca

تاخیراومهلت ورکوی.چه دوی دخپلو بدوعملونونه منع شی.لیکن چه بیاهم دوی په صحیح لاره نه راځی.نودوی سختئ سره رانیسی.اوددوی نه پوره انتقام اخلی.البته چه څوك توبه اوکړی.اوهغه طرف ته متوجه شی.اودهغه فرمانبردارشی.هغه په هغهٔ باندې دهغهٔ دمورپلارنه هم زیات رحم اوکرم کوی!.

وَاِذْ	نَادٰى	رَبُّكَ	مُوْسٰٓى	اَنِ ائْتِ	الْقَوْمَ
او کله چی	آواز اوکړو	رب ستا	موسی ته	چی لاړشه ته	قوم
اوهغه وخت (یادکړه چې) ستارب موسی علیه السلام ته آواز اوکړو				چې ته دغې	

الظّٰلِمِيْنَ ۝	قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ	اَلَا يَتَّقُوْنَ ۝	قَالَ	رَبِّ	اِنِّيْٓ
ظالم ته	قوم دفرعون ته	آیا نهٔ پریږی هغوئ	اووئیل موسی	اے ربه زما	بیشکه زهٔ
ظالمانو ته یعنی دفرعون قوم ته ورشه	آیا هغوئ ځان دعذاب نه بچ کوی ؟	اموسی علیه السلام اووئیل چې			

اَخَافُ	اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ؕ	وَيَضِيْقُ	صَدْرِيْ	وَلَا يَنْطَلِقُ	لِسَانِيْ
پریږم	چی دروغژن به اوګڼی مالره	او تنګیږی	سینه زما	اونهٔ چلیږی	ژبه زما
اثی زماربه! زه ددې خبرې نه ویریږم	چې هغوئ بهٔ مې دروغژن اوګڼی	اوزما زړه تنګیږی			

فَاَرْسِلْ	اِلٰى هٰرُوْنَ ۝	وَلَهُمْ	عَلَيَّ	ذَنْبٌ	فَاَخَافُ
نو اولیږه (رسالت)	هارون ته	اوده دهغوئ په ماباند	ګناه (جرم)	نو زهٔ پریږم	
اوزما ژبه نه چلیږی	نو هارون ته هم وحی اولیږه	اود هغوی په ما باندې یو جرم دعوی ده		زهٔ پریږم	

اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ۝	قَالَ كَلَّا ۚ	فَاذْهَبَا	بِاٰيٰتِنَآ	اِنَّا
چی قتل به کړی مالره	اووئیل الله	هرګز نهٔ	پس لاړشئ دواړه	دنبنو زمونږ سره
بیشکه مونږه چې هسې نه هغوئ ما قتل کړی	الله اوفرمائیل چې هیڅکله نه	تاسو دواړه زما حکمونه یوسئ		

مَعَكُمْ	مُّسْتَمِعُوْنَ ۝	فَاْتِيَا	فِرْعَوْنَ	فَقُوْلَآ	اِنَّا
ستاسو سره	اوریدونکی یو	پس ورشئ دواړه	فرعون ته	نو ورته اووایئ دواړه	بیشکه مونږه
تاسو سره یو	هرڅه اورو	نوتاسو دواړه فرعون ته ورشئ		اوورته اووائې چې مونږ دواړه د	

رَسُوْلُ	رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝	اَنْ اَرْسِلْ	مَعَنَا	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ؕ	قَالَ
استاذی	درب العالمین یو	چې اولیږه	زمونږ سره	بنی اسرائیل	اووئیل فرعون
رب العالمین پیغمبران یو	او ته مونږ سره بنی اسرائیل پریږده	(چې خپل وطن فلسطین ته لاړشو)			

اَلَمْ نُرَبِّكَ	فِيْنَا	وَلِيْدًا	وَّلَبِثْتَ
ایا نه وې پاللې مونږ ته	په کور زمونږ کښې	په وړوکوالي (ستا کښې)	او وخت تیر کړې تا
(فرعون) اووئیل چې ایا مونږ په وړوکوالی کښې ستا پالنه دلته نه وه کړې	او تا دخپل عمر		

فِيْنَا	مِنْ عُمُرِكَ	سِنِيْنَ ۝	وَفَعَلْتَ	فَعْلَتَكَ الَّتِيْ	فَعَلْتَ
په کور زمونږ کښې	دعمر ستانه	ډیر کلونه	او بیا اوکړو تا	کار خپل	هغه
چې اوکړو تا څوکلونو مونږسره یو خائې نه وو تیرکړې	او تا هغه کار هم کړې وو	کوم چې دې کړې وو	(زمونږ سره		

Scanned with Ca

وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ قَالَ فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا
اوته | دناشکرونه ني | اووئيل موسی | کړي وؤ ما هغه کار | کله چی وم زهٔ |
دي قتل کړي وو | او ته ډير ناشکره ئي | (موسی عليه السلام) اووئيل چې بيشکه ما هغه وخت دا حرکت کړي وو | اوما
مِنَ الضَّآلِّيْنَ ۝ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ
دناپو هانونه | نو اوتښتيدم زهٔ | ستاسو نه | هر کله چی | اويريدم زهٔ ستاسو نه |
نه غلطی شوي وه | نوزهٔ تاسو نه ويريدم | او اوتښتيدم | بيا زما رب
فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝
نو راکړه ماته ارب زما | حکم (پوهه پيغمبری) | او جوړني کړم زهٔ | درسولانونه |
ماته دانائی راکړه | .....او زه ئي په پيغمبرانو کښې شامل کړم
وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ
او دغه نعمت | چی ته احسان کوي دهغې | په ماباند | دادي چی تاغلامان کړی وؤ |
او دا (زمادپرورش) احسان چې ته په ما کوي | (ددې وجه داده) چې تا بنی اسرائيل غلامان
بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝
بنی اسرائيل | اووئيل فرعون | او څه څيز دي رب العالمين |
جوړ کړی دی | فرعون اووئيل چې د خلقو رب څوک دي ؟ |

قوله تعالی:- وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰٓى

لارشه فرعون طرف ته،موسی عليه السلام ته دالله ﷻ حکم:- الله تعالی چه خپل بنده اوخپل رسول اوخپل کليم موسی عليه السلام ته کوم حکم ورکړي وو.هغه بيانيږی.چه دطورښی طرفنه ئي هغهٔ ته آواز ورکړو.هغهٔ سره ئي کلام اوکړو.هغه ئي خپل منتخب شوي رسول جوړکړواوهغه ئي فرعون اودهغهٔ قوم طرف ته اوليږلو.چه هغه په ظلم باندې کلك وو.اودالله تعالی د ويري او پرهيزګاریٔ نوم هم په هغه کښې نه وو پاتې.

قوله تعالی:- قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ۝

دموسی عليه السلام عذب او دهغه جواب:- حضرت موسی عليه السلام خپلې څه کمزوریٔ دالله تعالی په مخکښې بيان کړلې.چه هغه دالله ﷻ په مهربانیٔ سره لرې کړې شوې.لکه چه په سورهٔ طه کښې دموسی عليه السلام د سوالاتو نه پس دی (قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى) يعنی اې موسی عليه السلام استاپولسوالونه پوره کړې شول.دلته د موسی عليه السلام عُذردا بيان شوې دي.چه ماته ويره ده چه هغوی به ما دروغژن کړی.زما سينه تنګه ده.زما ژبه کښې تتوالي دي.نوهارون هم ماسره نبی جوړکړې.اوما په هغوی کښې يوقبطی بغير دجرم نه وژلې وو.چه دهغې په وجه مامصرپريښودلو.اوس په ورتلوکښې زه ويريږم.چه چرته هغه زمانه بدله وانخلی. الله تعالی جواب ورکړو.چه دهيڅ يوې خبرې ويره مه ساته.مونږستارورستاملګری جوړؤ.اوتاته روښانه دليل درکوو.هغوی به تاسوته هيڅ تکليف نه رسوی.زما وعده ده چه تابه غالب کوم.ته زما آياتونه خان سره خو يوسه.زما مددبه تاسوسره وی.زه ستا اودهغوی تولې خبرې اورم.لکه چه فرمان دي.چه زه تاسو دواړو سره يم.اورم وينم.زماحفاظت،زما مدد،زما نصرت اوتائيد تاسوسره دي.ته فرعون ته لارشه اوپه هغه باندې خپل رسالت ښکاره کړه.لکه چه بل آيت کښې دی.چه هغه ته اووايه چه په مونږ دواړوکښې هريودالله رسول دي.فرعون ته ئي اووئيل چه ته مونږسره بنی اسرائيل اوليږه. هغوی دالله تعالی مؤمنان

Scanned with Ca

بندګان دی.تاهغوی خپل غلامان جوړکړی دی.اوهغوی دې کمزوری کړی دی.ذلت سره دهغوی نه کارونه اخلي.اوهغوی دې په عذابونوکښې ګیرکړی دی.اوس هغوی آزادکړه.

قوله تعالی:- قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا

دفرعون دموسی ﷺ پیغام ته په سپک نظر کتل او د موسی ﷺ جواب: دحضرت موسی ﷺ داپیغام فرعون ډیرپه سپکوالی سره واوړیدهٔ.اوهغه ئې اورتلو،وې وئیل چه آیاته هغه نه یې؟ چه ته مونږخپل خان سره اوساتلي.تړډیرې مودې پورې مونږستا پرورش کولو.ددې احسان بدله تادا راکړه.چه هم په مونږکښې دې یوکس اووژلو.او زمونږناشکری دې اوکړه.ددې په جواب کښې حضرت کلیم الله اوفرمائیل.داتولې خبرې دنبوت نه مخکښې دی.چه هغه وخت زه پخپله ناخبره ووم.دعبدالله بن مسعود ﷺ په قراءت کښې د ﴿مِنَ الضَّآلِّيْنَ﴾ په ځائې ﴿مِنَ الْجٰهِلِيْنَ﴾ دی.حضرت موسی ﷺ ورته اوفرمائیل. هغه رومبې حال ختم شو. دویم وخت راغې.الله ﷻ زهٔ خپل رسول جوړکړې تاته رالیږلې یم.اوس که ته زما وینا اومنې.نو سلامتی به بیامومې.اوکه زما نافرمانی کوې نوهلاک به شې.دهغه خطاته پس چه زهٔ ستا نه اوتښتیدم.دهغې نه پس دالله تعالی دافضل په ما باندې اوشو.اوس زړې قصې مه یادوه. زما په آواز باندې لبیک اووایه.او واوره!که تایواځې په ماباندې احسان کړې دې نوزماپه هریوقوم باندې تا ظلم اوزیاتي کړې دې. هغوی دې ټول غلامان جوړکړی دی.زماسره دا سلوک اوهغوی سره دا زیاتي او بدسلوکی به برابر برابرشی!

قَالَ فِرْعَوْنُ	وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾	قَالَ		
اووئیل فرعون	او څه څیز دې رب العالمین	اووئیل موسی		
فرعون اووئیل چې د خلقو رب څوک دې ؟	موسی ﷺ جواب ورکړو			
رَبُّ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ وَمَا	بَيْنَهُمَا ؕ	اِنْ كُنْتُمْ	
رب داسمانونو دې	او دزمکې دې	او هغه چې په منځ ددواړو کښې دی	که یې تاسو	
چې هغه داسمانونو او زمکې اوددې دواړه په مینځ د هرڅه مالک دې	که چرې تاسو			
مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾	قَالَ	لِمَنْ	حَوْلَهٗۤ	اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿۲۵﴾
یقین کونکی	اووئیل فرعون	هغه چاته	چې چاپیره وؤ	ایا نهٔ اوریٔ تاسو
یقین کوئی	فرعون خپل (ګیرچاپیره ناستو) درباریانو ته	اووئیل	چې تاسو واوریدل ؟	
قَالَ	رَبُّكُمْ	وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ	الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۶﴾	قَالَ
اووئیل موسی	(هغه) رب ستاسو دې	او رب دپلارانو ستاسو دې	چې اولنی وؤ	اووئیل فرعون
موسی ﷺ ورته اووئیل چې هغه ستاسو هم رب دې	اوستاسود پلار نیکه هم رب دې	فرعون ووئیل		
اِنَّ	رَسُوْلَكُمُ	الَّذِيْۤ	اُرْسِلَ	اِلَيْكُمْ	لَمَجْنُوْنٌ ﴿۲۷﴾
بیشکه	رسول ستاسو	هغه	چې رالیږلې شوی دی	تاسو ته	خامخا لیونی دې
چې ستاسو دا رسول چې تاسوته راغلې دې	..... دا خو لیونی دې				
قَالَ	رَبُّ الْمَشْرِقِ	وَالْمَغْرِبِ	وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ	اِنْ كُنْتُمْ
اووئیل موسی	رب دمشرق	او دمغرب دې	او هغه چې په منځ ددواړو کښې دی	که یې تاسو
موسی ﷺ اووئیل هغه (الله ﷻ) د مشرق او مغرب او څه چې ددې په مینځ کښې دی	د ټولو رب دې			

تَعْقِلُوْنَ۝

چې دعقل نه څه کار اخلئ!

که تاسو دعقل نه کار اخلئ!

قوله تعالی:- قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ۝

د فرعون د ربوبیت دعوی -چونکه فرعون خپل رعیت (ماتحت)بې لارې کړې وو.اوهغوی ته یې یقین ورکړې وو.چه معبود اورب صرف زه یم.زما نه سواهیڅوك نشته.دهغوی ټولوهم داعقیده وه.کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل چه زه درب العالمین رسول یم.نوهغه اوونیل رب العالمین څه څیزدې؟ مقصدهم داوو.چه زما نه سواڅوك رب شته هم نه.ته چه کوم څه وائې بالکل غلط دی.

درب العالمین شان دموسیٰ علیه السلام په ژبه.لکه چه په بل آیت کښې دی.چه هغه تپوس اوکړو (فَمَنْ رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى) ای موسیٰ! ستاسودوارو رب څوك دې؟ددې په جواب کښې کلیم الله اوفرمائیل.چاچه دهریو پیدائش کړې دې.اوڅوك چه دټولو هادی دې.دلته یاد ساتئ چه بعضې منطقیان دلته غلط شوی دی.اوونیلی نې دی.چه د فرعون سوال دالله تعالی دماهیت نه وو.دابالکل غلط دی. ځکه چه دماهیت تپوس خوبه نې هله کولې.کله چه مخکښې دوجود قائل وې.هغه خو دسره دالله تعالی دوجود منکر وو. خپله هم دا عقیده به نې ښکاره کوله.اوپه یویو باندې به نې دا عقیده منله.اګرچه ددې خلاف حجت او دلیلونه د هغه مخکښې ښکاره شوی وو.پس دهغۀ په دې سوال چه رب العالمین څوك دې؟ حضرت کلیم الله جواب ورکړو.چه هغه دټولو خالق دې،دټولومالك دې،په ټولو قادردې،دټولومعبود دې. یو دې، یواځې دې، دهغۀ څوك سره شریك نشته.عالم علوی آسمان اوددې مخلوق، عالم سفلی زمکه اوددې کائنات ټول هغۀ پیداکړی دی.ددې په مینځ کښې څیزونه هوامارغان وغیره ټولودهغۀ مخکښې عاجزه اود هغۀ عبادت کونکی دی.که ستازۀ دیقین دولت نه خالی نه وی.که ستا سترګې روښانه وی.نود رب العالمین دا صفتونه دهغۀ د ذات منلو دپاره کافی دی.په دې اوریدوسره فرعون چونکه هیڅ جواب ورنکړې شو.ځکه نې خبره په ټوقوکښې اچولودپاره،خلقولره په خپلې ښودلې شوې عقیدې باندې مضبوطولو دپاره هغوی طرف ته اوکتل.اووې ونیل واورئ! دې زمانه سوا بل چالره الله منی؟ دتعجب خبره ده حضرت موسیٰ علیه السلام دهغۀ په دې بې پرواهئ اونه یریدلو.اودالله ﷻ د وجود نور دلیلونه بیانول نې شروع کړل.چه هغه ستاسوټولو اوستاسونه دمخکښې خلقومالك اوپروردګاردې. نن که تاسو فرعون لره الله منئ.نولرپه دې خوسوچ اوکړئ.چه دفرعون نه مخکښې ددنیاوالو الله څوك وو؟ددۀ نه مخکښې د آسمان او زمکې وجود وو.ددې ایجادکونکی څوك وو؟ بس هغه زما رب دې هغه د ټولې دنیا والو رب دې.دهغۀ رالیږلې شوې زه یم! فرعون ددلیلونو ددې باران برداشت اونکړې شو. جواب نې هم نه شو ورکولې . نووې ونیل دې پریږدئ داخوځه پاګل سړې دې.که.داسې نه وی.نوزما نه سوا به نې بل څوك رب ولې منلې؟کلیم الله بیاهم خپل دلیلونه جاری اوساتل.دهغۀ دفضول کلام نه بې پرواه شو،وې فرمائیل.چه واورئ! دمشرق او مغرب مالك چه څوك دې هغه زمارب دی.هغه نمر،سپوږمئ او ستوری د مشرق نه راخیژوی.اومغرب طرف ته نې کوزوی.که فرعون دخپل خدائی توب دعوه کښې رښتونې دې.نولرې دې یوه ورځ ددې خلاف اوکړی مونږته دې اوښائی.دمغرب نه دې راوړ باسی اومشرق ته دې بوځی.هم دا خبره خلیل الله دخپلې زمانې بادشاه ته دمناظرې په وخت کړې وه. مخکښې خونې دالله صفت بیان کړو.چه هغه ژوندی کوی مړۀ کوی.لیکن هغه بیوقوف چه کله دې صفت لره دالله سره د خاص کیدلونه انکاراوکړو.اووې ونیل چه داخوزۀ هم کولې شم.نوخلیل الله علیه السلام سره ددې چه په دې دلیل کښې ډیر ګنجائش وو.ددې نه هم واضح دلیل هغۀ ته پیش کړو.چه زما رب د مشرق نه نمر راخیژوی.ته دا د مغرب نه راوخیژوه.اوس خو وارخطا شو.هغه پوهه شوچه که یوما اونه منل نو ولې؟ دا

Scanned with Ca

واضح دلیلونه خوبه په دې ټولوباندې اثراوکړي.په دې وجه ئې اوس خپل قوت نه د کار اخستلو اراده اوکړله.او حضرت موسی علیه السلام ته ئې دهمکی ورکړله وې یرولو.لکه چه روستو راروان دی.

قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ

| اووئیل فرعون | که چری اونیوئ تا | معبود | غیر زما نه (بل څوک) |

| فرعون اووئیل که تا زما نه بغیر بل څوک معبود جوړ کړو

لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ

نو مونږ به جوړ کړو تالره | دقیدیانونه | اووئیل موسی | اګر که راوړم زهٔ تاته | څه څیز (دلیل)

نو زه به تا قیدی کړم | موسی علیه السلام اووئیل چې | اګر که زهٔ درته یو ښکاره دلیل پیش کړم

مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾ قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَلْقٰى

ښکاره | اووئیل فرعون | راوړه هغه | که ئې ته | درښتینو خلقو نه | نو اوغورزوله هغه

(نوبیا هم ما بندی کوې) فرعون اووئیل چې (ښه ده) ته خپل دلیل راوړاندې کړه | که ته ریښتونې ئې نو

عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿۳۲﴾ وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا

همسا خپله | نو یودم وه | هغه | اژدها ښکاره | اوراویستلو ئې | لاس خپل | نو ناسپه وؤ

موسی علیه السلام خپله همسا راوغورزوله | اودهغې نه یوه غټه اژدها جوړه شوه | او لاس ئې (دترخ نه) بهر کړو

هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۳۳﴾ قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ

هغه تك سپین ځلیدونکې | دپاره دکتونکو | اووئیل فرعون | سردارانو ته | چې ناست وؤ دهغه نه ګیرچاپیره

نوټولو کتونکو ته ځلنده سپین ښکاره شو | فرعون خپل ګیر چاپیره درباریانو ته اووئیل چې

اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ

بیشکه داسړې | خامخا جادوګر دې | ډیر پوهه | دې غواړي | چې اوباسي تاسو |

داسړې چې ډیر ماهر جادوګر دې | دې خو دا غواړي چې تاسو دخپل جادو په زور د ملک

مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ

دزمکې ستاسو نه | په جادو خپل سره | پس څه | حکم کوئ تاسو | اووئیل هغوئ | ایسار کړه دې

نه بهر اوباسی | نو (ددهٔ په حقله) تاسو ماته څه مشوره راکوئ؟ | دوئ اووئیل چې ددهٔ ته اوددهٔ

وَاَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿۳۶﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ

او رور ددهٔ | اواولیږه | په ښارونو کښې | راجمع کونکې نوکران | چې راولی تاته | هر جادوګر |

رور ته (څه قدري) مهلت ورکړه | او ټولو ښارونو ته کسان اولیږه | چې ټول پوهه جادوګران

عَلِيْمٍ ﴿۳۷﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۳۸﴾

پوهه | نو راجمع کړې شو جادوګران | مقرر وخت دورځې | معلومې ته |

راحاضر کړې | نو ټول جادوګران دیو مقرر وخت باندې راجمع کړې شول |

Scanned with Ca

قوله تعالی:- قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ

د فرعون موسی علیه السلام ته دهمکی:- کله چه په بحث کښې فرعون شکست اوخوړلو په دلیل اوبیان کښې غالب نه شو.نودقوت اوطاقت مظاهره ئې اوکړله.اوپه مال اوطاقت سره ئې دحق لاندې کولواراده اوکړله.اووې وئیل چه اې موسی ازما نه سوا بل څوک به معبود جوړکړې نوپه جیل کښې به دې زوړکړم اوساه به دې اوباسم.حضرت موسی علیه السلام هم چونکه وعظ اونصیحت کړې وو.هغۀ هم اراده اوکړله چه زۀ هم هغه اودهغۀ قوم په بله طریقه قائل کړم.نووې فرمائیل.چه که زۀ په خپلو رښتیاوۀ باندې یوه معجزه پیش کړم اوته هم اومنې نوبیا؟ فرعون د اۀ کولونه بغیرځه کولې شو.وې وئیل ښه ده که رښتیاوی نو پیش کړه!

قوله تعالی:- فَاَلْقٰى عَصَاهُ

ید بیضاء د موسی علیه السلام لویه معجزه:- هغۀ اوریدوسره خپله همسا کومه چه دهغۀ په لاس کښې وه.هغه ئې په زمکه اوغورزوله.بس هغه په زمکه پریوتل وو.چه هغې نه د یوې اژدهې شکل جوړشو.او اژدها هم ډیره لویه،تیروغاښونووالا،هیبت ناک،ویرونکې،اوخوفناک شکل والا،وازې خلې سره راروان وواو غړمبیدله.دې سره ئې خپل ګریوان کښې خپل لاس ورکړو.نوهغه دسپوږمئ پشان پرقیدونکې راووتلو دفرعون قسمت چونکه دایمان نه خالې وو.

قوله تعالی:- قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ

د فرعون ضد:- داسې واضحه معجزو لیدلوسره هم په خپلې بدبختئ کلك پاتې شو.نورخوځه جوړه نه شوه. خپلو ملګرواو درباریانوته ئې اووئیل.داخو ډیر لوئې جادوګردې.پس خپل ملګری ئې ددې نه منع کول غوښتل چه چرته هغوی دامعجزه اونه ګټری.هغوی ته ئې اووئیل.چه داخو دجادو کرشمې دی. پیشکه دومره خوماهم اومنله.چه دې دخپلې جادوګرئ په فن کښې کامل اُستاذدې.بیائې هغوی لره د حضرت موسی علیه السلام په دُشمنئ باندې راضی کولودپاره یوه بله خبره جوړه کړله.چه دې به دغه شان کرشموبنکاره کولوسره خلق خان طرف ته متوجه کوی.اوکله چه څه خلق ددۀ سره شی.نودوی به بغاوت راوچت کړی.بیابه تاسو مغلوبه کړی اوپه دې ملك به خپله قبضه اوکړی.نو دده دختمولوکوشش د اوس نه کول پکاردی.اووایئ چه ستاسوڅه رائې ده؟ دالله قدرت اوګورئ! چه په فرعونیانوالله تعالی هغه خبره اووئیله چه په هغې کښې حضرت موسی علیه السلام ته دعام تبلیغ موقع ملاوشی.اوپه خلقوباندې حق واضح شی.یعنی جادوګر دمقابلې دپاره راغوښتل!

فَجُمِعَ السَّحَرَةُ	لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ	مَّعْلُوْمٍ ۙ	وَّقِيْلَ	
نو راجمع کړې شو جادوګران	مقرر وخت دورځې	معلومې ته	اواووئیلې شو	
نو ټول جادوګران دیو مقررې ورځې په یو مقرر وخت باندې راجمع کړې شول			اوخلقو ته اووئیلې	
لِلنَّاسِ	هَلْ اَنْتُمْ	مُّجْتَمِعُوْنَ ۙ	لَعَلَّنَا	نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ
خلقو ته	آیا یئ تاسو	جمع کیدونکی	کیدې شی چی مونږه پیروی اوکړو	دجادوګرانو
شو	چې آیا تاسو هم جمع کیږی (یعنی جمع شئ)		د دې دپاره که جادوګران غالب شو	نو چې مونږ
اِنْ كَانُوْا	هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ۝	فَلَمَّا	جَآءَ السَّحَرَةُ	قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ
که شو هغوئ	هم هغوئ غالب	نو هر کله چی	راغلل جادوګران	نو اووئیل هغوئ فرعون ته
دهغوئ په لار روان پاتې شو	څه وخت چې جادوګران	راغلل	نو فرعون ته ئې اووئیل	

اَئِنَّ	لَنَا	لَاَجْرًا	اِنْ كُنَّا	نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۴۱﴾ قَالَ نَعَمْ
آیا وی به دپاره زمونږه	خامخا څه اجر	که شو مونږه	هم مونږه غالب	اووئیل فرعون	هو !
چې که چرې مونږ غالب شو نو آیامونږ ته به څه انعام هم ملاویږی	فرعون اووئیل چې			
وَاِنَّكُمْ	اِذًا	لَّمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ لَهُمْ	مُّوْسٰٓى	اَلْقُوْا
او بیشکه تاسو به	په هغه وخت	ضرور دنزدیکانونه یئ	اووئیل	هغوئ ته	موسی	اوغورزوئ
آو ، اوپه دې صورت کښې به تاسو زما ددې دربار په نزدې کسانو کښې شامل شئ	موسی ﷺ اووئیل چې تاسو څه			
مَآ	اَنْتُمْ	مُّلْقُوْنَ ﴿۴۳﴾ فَاَلْقَوْا	حِبَالَهُمْ	وَعِصِيَّهُمْ
هغه څه	چې تاسو	غورزونکی یئ دهغې	نو اوغورزولو هغوئ	رسئ خپلې	اوهمسا گانې خپلې
غورزو ل غواړئ	نو هغه اوغورزوئ	هغوئ خپل پرې اوهمسا گانې نه اوغورزولې	او	
وَقَالُوْا	بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ	اِنَّا لَنَحْنُ	الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَاَلْقٰى	مُوْسٰى
	اووې ونیل	په عزت دفرعون سره	خامخا مونږ به	غالب کیږو	نو بیا اوغورزوله	موسی
دائې اووئیل چه دفرعون په عزت او جلال قسم دې	چې مونږ به خامخا کامیابیږو	بیا موسی (هم)		
عَصَاهُ	فَاِذَا هِيَ	تَلْقَفُ	مَا	يَاْفِكُوْنَ ﴿۴۵﴾
همسا خپله	نو څه گوری چې هغه	تیروی	هغه څه	چې دروغ جوړ کړی ووئ هغوئ
خپله همسا اوغورزوله	نو فورا همسا دهغوئ جوړه کړې نظربندی تیرول شروع کړل			
فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ	سُجَّدًا	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا	بِرَبِّ
نو بې اختیاره پریوتل جادوگران	سجده کونکی	اوونیل هغوئ	ایمان راوړو مونږه	په رب
نوټول جادو گران پرمخ په سجده پریوتل	دائې اووئیل چې مونږ په رب العالمین			
الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۶﴾	رَبِّ مُوْسٰى	وَهٰرُوْنَ ﴿۴۷﴾		
العالمین باندې	په رب دموسی	اوهارون		
ایمان راوړو	چې دموسی ﷺ او هارون ﷺ رب دې			

قوله تعالی:- فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ

دحق اوباطل معرکه: مناظره په ژبې اوشوه.اوس فعلی مناظره کیږی.ددې مناظرې ذکرپه سورهٔ اعراف، سورهٔ طه اوپه دې سورة کښې دې.دقبطیانو اراده دالله ﷻنورمړه کول وو.اودالله ﷻاراده غالب شوه. د ایمان اوکُفرمقابله چه کله هم اوشوه.ایمان په کُفرباندې غالب شوې دې.الله ﷻ حق په باطل باندې غالب کوی.دباطل سرشلیږی اودخلقو باطلې ارادې په هواکښې الوځی.حق چه راشی باطل تښتی. دلته همدغه شان شویده.په هریوښارکښې سپاهیان اولیږلې شول.څلورواړه طرفونونه ډیرمشهور مشهور جادوگر راجمع کړې شول.چه هغوی په خپل فن کښې کامل اود زمانې استاذان وو.وئیلی شوی دی چه دهغوی تعداد،دولس،یا پنځلس،یا اوولس یانورلس یاڅه زیات دیرش زره یا اتیا زره وو.یا

Scanned with Ca

ددې نه کم وزیات وو.صحیح تعداد الله تعالی ته معلوم دي.ددوی ټولواستاذان او سرداران څلورسړی وو.سابور،عاذور،حطط اومصفی! چونکه په ټول ملك کښې خبرخورشوې وو.دڅلور واړه طرفونونه ډلې ډلې خلق دمقرروخت نه مخکښې مصرکښې جمع شول.چونکه دا قاعده کلیه ده چه ماتحت دخپل بادشاه په مذهب وی.دټولو دژبونه هم دا وځی چه دجادوګرو دغالب راتلونه پس به مونږدهغوی په لاره ځو.دا دچا دژبې نه هم اونه وتل.چه کوم طرف ته حق وی. مونږبه هغه طرف ته ځو. اوس په موقع باندې فرعون سره دخپلو نوکرانو راووتلو.ټول حاکمان سرداران ورسره وو.لښکر اوفوج ورسره وو.جادوګرئې خپل دربارته خپلې مخې ته راوغوښتل.جادوګرو دبادشاه نه وعده واخسته.ځکه ئې اووئیل چه کله مونږ غالب راشو.نو بادشاه خوبه دخپلو انعاماتونه مونږنه هیروی.فرعون جواب ورکړو.واه داځنګه کیدې شی. نه صرف انعام بلکه زه خوبه تاسوپه خپلو خاص سردارانوکښې شامل کړم.اوتاسوبه همیشه زما سره اوسیږئ.تاسوبه زما نزدې خلق جوړشئ.زماټوله توجه به ستاسوطرفته وی.هغوی په خوشحالئ خوشحالئ میدان طرف ته روان شول.هلته چه لاړل موسیؑ ته ئې اووئیل. وایه چه ته مخکښې خپله استاذی ښکاره کوې اوکه مونږئې اوښایو.حضرت موسیؑ اوفرمائیل نه تاسومخکښې خپل بهرامن اوباسئ. چه ستاسوپه زړۀ کښې څه ارمان پاتې نه شی.په دې جواب موندلو سره هغوی خپلې چوکې او رسئ میدان کښې اوغورزولې.اووې وئیل.د فرعون په عزت سره به غلبه زمونږه وی.لکه څنګه چه جاهل عوام څه کارکوی.نو وائی دا دفلانی په ثواب سره.په سورۀ اعراف کښې دی چه جادوګرو د خلقو په سترګو باندې جادو اوکړو.یائې هغوی په هیبت کښې واچول.اودیرلونې جادونې ښکاره کړو.په سورۀ طه کښې دی.چه دهغوی همساګانې او رسئ دهغوی جادوسره خوزیدونکی معلومیدو.اوس دحضرت موسیؑ په لاس کښې چه کومه همسا وه.هغه ئې میدان کښې اوغورزولو.چه هغې په ټول میدان کښې چه کوم څه دهغوی دنظربندئ څیزونه وو.ټول ئې تیر کړل.پس حق ښکاره شو.اوباطل کمزورې شو.اودهغوی شوی کارونه ټول بیکاره شول.داڅه معمولی خبره او وړوکی دلیل نه وو.جادوګر خو د هغې په لیدوسره مسلمانان شول.چه یوسړې دفن ددومره استاذانوپه مقابله کښې راځی.دهغۀ حال د جادوګروپشان نه ډې.هغه څه خبره نه کوی.یقیناً زمونږ جادو،جادو دې.اوهغۀ سره دالله معجزه ده. هغوی خوهغه وخت هم هلته د رب په مخکښې سجده کښې پریوتل.اوهم په دغه مجمع کښې ئې د ټولوپه مخکښې دخپل ایمان راوړلواعلان اوکړو.چه مونږبه رب العالمین باندې ایمان راوړلو.بیادخپل قول نور واضح کولودپاره ئې ورسره ډاهم اووئیل.چه درب العالمین نه زمونږ مراد هغه رب دې.کوم ته چه حضرت موسیؑ اوهارونؑ خپل رب وائی.دومره لویه معجزه دومره لوئې انقلاب فرعون په خپلوسترګو اولیدلو.لپکن دملعون په قسمت کښې ایمان نه وو.بیائې هم سترګې کهلاونه کړلې.اود ځان دشمن شو.اوپه خپل طاقت سره ئې حق ختمولو.اووې وئیل.چه آوزه پوهه شوم.موسیؑ ستاسو د ټولو استاذ وو.دې تاسومخکښې راولیږلو.بیاتاسوپه ښکاره مقابلې کولودپاره راغلئ.اوخپل مینځ کښې دمشورې مطابق تاسوپه میدان کښې شکست اوخوړلو.اوددۀ خبره مواومنله.پس ستاسوداچل ښکاره شو.

قَالَ	اٰمَنْتُمْ لَهٗ
اووئیل فرعون	تاسو خبره اومنله دهغه
فرعون اووئیل چې تاسو زما د	

Scanned with Ca

قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ

مخکښې ددې نه | چې زۀ اجازت درکړم | تاسو ته | بېشکه هغه | خامخا مشر ستاسو دې | هغه

اجازت نه ورکوندې په موسی علیه السلام باندې ایمان راوړو | بېشکه دا موسی ستاسو مشر دې | چاچې

عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۗ لَاُقَطِّعَنَّ

چې ښودلې ئې دې تاسو ته | جادو | پس ډیر زر به | پته اولږی تاسو ته | خامخا به پرېکړم زۀ

تاسو ته جادو خودلې دې | ډیر زر به تاسو ته ددې انجام معلوم شی | زه به ستاسو دیوا رخ

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ

لاسونه ستاسو | او خپې ستاسو | دمخالفو طرفونو نه | او پانسی به کړم تاسو |

لاس او دبل ارخ پښه پرېکړم | اوتاسو ټول به په سولئ کړم |

اَجْمَعِيْنَ ۝ قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۚ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ۝

ټول | اووئیل هغوئ | نشته ضرر (پروا) | بېشکه مونږه | رب خپل ته | واپس تلونکی یو

.....هغوی اووئیل چې هیڅ خبره نه ده | مونږ خپل رب ته واپس تلونکی یو. |

اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ كُنَّآ

بېشکه مونږه | امید لرو | چې اوبه ښښی مونږ لره | رب زمونږه | ګناهونه زمونږه | چې وؤ مونږه |

مونږ امید لرو | چې زمونږ رب به زمونږ ګناهونو نه معاف کړي | ځکه چې مونږ د ټولو

اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ

اول مومنان (په دغه حاضرینو کښې) | او وحی اوکړه مونږه | موسی ته | چې دشپې بوځه

ږومبې ایمان راوړي دي | اومونږ موسی علیه السلام ته حکم اوکړو | چې زما بندګان شپه په شپه

بِعِبَادِيْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ۝ فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَآئِنِ

بندګان زما | بېشکه تاسو | پسې به درځی خلق | نو اولیږل | فرعون | په ښارونو کښې (خبریالان)

(دمصر نه) بهر ته اوباسه | خوتاسو به رالاندې کولې شئ | فرعون ټولو ښارونو ته سپاهیان

حٰشِرِيْنَ ۝ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ ۝ وَاِنَّهُمْ

راجمع کونکی (دلښکر) | بېشکه دا بنی اسرائیل | خامخا یوه ډله ده | لږه | او بېشکه دوئ

اولیږل | .....اووې وئیل چې دا یو وړوکې شان ټولې دي | اودوئ

لَنَا لَغَآئِظُوْنَ ۝ وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ۝

مونږ لره | غصه راوستونکی دی | او بېشکه مونږه | خامخا یوه ډله یو | بیدار اوسیدونکی |

مونږ ډیر زیات قهرولی یو | او مونږ وسله پوري خلق یو

فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝ وَّكُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ۝

نو راوویستل مونږ هغوئ لره | دباغونونه | او دچینونه | او دخزانونه | او دښو ځایونونه

غرض داچې مونږ دغه فرعونیان دباغونو اوچینو اوخزانو او ښائسته کورونو نه بهر اوویستل

Scanned with Ca

كَذٰلِكَ ؕ	وَاَوْرَثْنٰهَا	بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾ ؕ
هم داسي اوكړل مونږه | او په ميراث كښې وركړل مونږه هغه		| بنی اسرائيلو ته |
دامو اوكړل | او مونږ بنی اسرائيل د دوئ وارثان جوړ كړل		

قوله تعالیٰ:- قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ

حق غالب اوباطل مغلوب شو او د فرعون دهمکی:- سُبحان الله څنګه کامل ایمان والاخلق وو.حالانکه اوس په ایمان کښې راغلی وو.لیکن دهغوی دصبراوکلکوالی به څه وائي.فرعون پشان ظالم اوجابر ورته ولاړ دي دهمکیاني ورکوی او یروی یي.اوهغوی زړه ورتیا سره بې دویري نه دهغهٔ دطبیعت خلاف جواب ورکوی.دکُفر پردي ئې دزړهٔ نه لرې شوی دی.په دي وجه دسینې په زورمقابلې دپاره راغلی دی.اود مادی طاقتونونه بالکل نه ویریږی.ددوی په زړونوکښې داخبره ناسته ده.چه موسی علیه السلام سره دالله ورکړې شوې معجزه ده.حاصل کړې شوې جادونه دي.دغه وخت ئې حق قبول کړو.فرعون دغصې نه سورشو.او وې وئیل.چه تاسوخوزه دیخ ځیز اونه ګنړلم.زما نه باغی شوئ.زمانه موتپوس هم اونه کړو.اود موسی علیه السلام خبره مواومنله؟بیاپه دي خیال سره چه چرته دمجلس په حاضرینو باندې ددهٔ دشکست خوړلو،بلکه بیادمسلمانیدواثراونه غورزیږی.هغهٔ دهغوی دپوهولو یوه خبره جوړه کړله.اووې وئیل چه آو تاسو ټول ددهٔ شاګردان یئ.اودي ستاسو اُستاذدي.تاسوټول مریدان یئ اودي ستاسو بزرګ دي.تاسو ټولوته دهٔ جادو ښودلې دي.دي دهوکه بازئ ته اوګورئ.دا صرف د فرعون بې ایمانی او چل بازی وه.ګنی ددي نه مخکښې نه جادوګروکلیم الله لیدلې وو.نه دالله رسول علیه السلام ددوی د شکل پیژندلو. دالله پیغمبرخوجادو پیژندلوهم نه.چاته به ئې څه ښودلې وې؟دعقلمندئ خلاف ئې داخبره اوکړله بیائې دهمکیاني شروع کړلې.اوپه خپل ظالمانه عادت باندې راغې وې وئیل.زه به ستاسوټولو لاسونه خپې اُلټه پرې کړم.او تاسوبه لنډی بونډی کړم.بیابه موپهانسی کړم.اویوبه هم ددي سزانه پرې نږدم.

قوله تعالیٰ:- قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۫

دجادوګرانوفرعون ته جواب:- ټولو متفق طورباندې جواب ورکړو.چه خان صاحب په دي کښې څه باك دي؟ څه چه ستانه کیدي شی اوکړه.مونږته هیڅ پرواه شته.مونږله خواالله علیه السلام طرف ته واپس تلل دی. مونږ به دهغهٔ نه ثواب اخلو.خومره تکلیف چه ته مونږته راکوې.دومره اجراوثواب به زمونږ رب مونږته راکوی.په حق باندې مصیبت برداشت کول بالکل معمولی خبره ده.چه ددي مونږته هیڅ ویره نشته. زمونږخواوس بس یوخواهش دي.چه زمونږ رب مونږپه تیرو شووګناهونوباندې اونه نیسی.کومه مقابله چه تاپه مونږه کړې ده.ددي وبال (ګناه) زمونږنه لرې شی.اوددي دپاره مونږسره سوا ددي نه هیڅ وسیله نشته. چه مونږ ټول دټولونه مخکښې الله والاجوړشو.په ایمان کښې مخکښې شو.په دي جواب باندې هغه نورهم غصه شو.اوهغوی ټولو لره هغهٔ قتل کړل. رضی الله عنهم

قوله تعالیٰ:- وَاَوْحَيْنَاۤ اِلٰى مُوْسٰۤى

د فرعون د ګرفت نه د بنی اسرائیلو ازادی:- موسی علیه السلام دخپل نبوت ډیره زمانه په هغوی کښې تیره کړله. دالله تعالی آیاتونه او دلیلونه ئې په هغوی باندې واضح کړل.لیکن دهغوی سربښکته نه شو.دهغوی تکبرختم نه شو.دهغوی په بدودماغوکښې هیڅ فرق رانغې.نواوس ددي نه سواهیڅ ځیزباقی پاتې نه شوچه په هغوی باندې دالله عذاب راشی.او تباه شی.موسی علیه السلام ته دالله وحی راغله چه دشپې شپې بنی اسرائیل ځان سره زمادحکم مطابق روان کړه.بنی اسرائیلوپه دغه موقعه باندې دقبطیانونه ډیرکالی

Scanned with Ca

(زبورات)دعاریت په طوروا خستل.اودشپې دسپورمۍ په رڼاکښې چپ چاپ اووتل.مجاهد رحمه الله وائی چه په دغه شپه سپورمۍ تندر(چاند گهن؟؟)نیولې وه ( ).

موسی علیه السلام دتللو په وخت کښې دیوسف علیه السلام تابوت هم ځان سره واخستو:- موسی علیه السلام په لاره کښې تپوس اوکړو چه دحضرت یوسف علیه السلام قبرچرته دې؟دبنی اسرائیلویې بوډهۍ قبراوښودلو.هغوی دیوسف علیه السلام تابوت ځان سره یوړلو.وئیلی شوی دی.چه هغوی پخپله هغه اوچت کړې وو.دحضرت یوسف علیه السلام وصیت وو چه بنی اسرائیل کله ددې ځائې نه ځی.نوزما تابوت دې هم دځان سره یوسی (۲).دابن ابی حاتم په یو حدیث کښې دی.چه نبی علیه السلام یو باندیچی سره میلمه وو.هغۀ دنبی علیه السلام ډیره میلمستیا اوکړله.په واپسئ کښې نبی علیه السلام اوفرمائیل.کله مونږسره په مدینه کښې هم ملاؤشه.څو ورځې پس باندیچی نبی علیه السلام ته راغې.نبی علیه السلام اوفرمائیل څه غواړې؟ هغۀ اووئیل آو یوه ښه اوښه سره د ځجاوې راکړه.او یوه چیلئ راکړه.چه هغه پئ ورکوی.نبی علیه السلام اوفرمائیل.افسوس چه تا دبنی اسرائیلو دبوډهۍ په شان سوال اونه کړو.صحابو رضی الله عنهم تپوس اوکړو.داواقعه څنګه ده؟نبی علیه السلام اوفرمائیل.کله چه حضرت کلیم الله بنی اسرائیل ځان سره روان کړل.نولاره تری هیره شوه.په زرګونو کوشش نې اوکړو.لیکن لاره نه ملاویده. هغوی خلق راجمع کړل تپوس نې تری اوکړو.چه دا تیارۀ ولې ده؟ نودبنی اسرائیلوعالمانو اووئیل.خبره داده چه حضرت یوسف علیه السلام په خپل آخری وخت کښې زمونږنه وعده اخستې وه.چه کله مونږدمصرنه څو.نودهغۀ تابوت به هم دځان سره اوړو.حضرت موسی علیه السلام تپوس اوکړو.چه په تاسوکښې چاته پته ده.چه دحضرت یوسف علیه السلام تابوت چرته دې؟ ټولو انکار اوکړو.چه مونږته پته نشته.په مونږکښې سوا د یوې بوډهۍ نه څوک هم دهغوی دقبرنه خبرنه دی.هغوی هغه بوډهۍ ته سړې اولیږلوهغه نې راوغوښتله چه ماته د حضرت یوسف علیه السلام قبراوښایه.بوډهۍ اووئیل.درته ښائم خومخکښې خپل حق اخلم.حضرت موسی علیه السلام اووئیل ته څه غواړې؟ هغې جواب ورکړو.چه په جنت کښې تاسره ملګرتیا ماته ملاؤشی.په هغوی باندې دهغې داسوال ډیرګران شو.هغه وخت وحی راغله.چه ددې خبره اومنه.ددې شرط منظورکړه.اوس هغوی موسی علیه السلام یوتالاب ته بوتلو.چه دهغې د اوبورنګ هم بدل شوې وو.وې وئیل چه ددې اوبه اوباسه.کله نې چه اوبه ویستلې.اوزمکه ښکاره شوه.نووې وئیل اوس داځائې اوکنه.چه کنستل نې شروع کړل.نو قبرښکاره شو.تابوت نې ځان سره کیخوده.اوس چه کله روان شول. نولاره صفا ښکاره شوه. اوپه نیغه لار روان شول( ).لیکن داحدیث ډیر غریب دې.بلکه حق ته زیاته نزدې خودادە.چه دا موقوف دې.یعنی درسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان هم نه دې.والله اعلم.

ددوئ دوتلو فرعون ته معلومات اوشو:- دا خلق خوپه خپله لار روان شول.هلته چه د فرعون او فرعونیانو دسحرپه وخت سترګې کهلاو شوې .نو څوکیدار غلامان وغیره څوک هم نشته.ډیرزیات پریشانه شول. اودغصې نه سرۀ شول.کله چه دامعلومه شوه.چه بنی اسرائیل خودشپې ټول په ټوله تښتیدلی دی.نو نوره هم خاموشی شوه.هغه وخت نې خپل لښکرجمع کړو.ټولوته نې اووئیل.چه دا دبنی اسرائیلو وړه شان ډله ده.خالص ذلیل،سپک،لږشان خلق دی.هروخت ددوی نه مونږته غم رارسی.تکلیف راته رسیږی.اوبیا هروخت مونږته ددوی دطرفه پریشانی وی.دا معنی د﴿خٰذِرُوْنَ﴾په قراءت باندې د سلفو یو جماعت داحذرون هم وئیلې دې.یعنی مونږ وسله بندیو.ما اراده کړې ده.چه اوس دوی ته ددوی د سر کشئ سزاورکړم.دوی ټول یوځائې ګیرکړم.دګاخرو مولوپه شان نې پرې کړم.دالله شان چه هم داخبره په هغۀ باندې پریوتله.اوهغه سره دخپل قوم اولښکر په یووخت هلاک شو.(لعنة الله علیه وعلی من تبعه)

---

۱) الطبری : ۳۵٤/۱۹.
۲) الطبری : ۳۵٤/۱۹.
۳) حاکم : ٤۰٤/۲، وسنده صحیح.

Scanned with Ca

قوله تعالی:- فَأَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۷﴾

فرعونیان یئ کول د خپلو کورونو نه اوویستل:- دالله تعالی ارشاددي.چه داخلق دخپل طاقت اوکثرت په نشه کښې بنی اسرائیلو پسې دهغوی دختمولوپه ارادې سره اووتل.په دې بهانه مونږهغوی لره دهغوی د باغونو،چینو،اونهرونونه،دخزانواوښائسته کورونونه راوویستل.اوجهنم ته موداخل کړل.هغوی خپل اوچت اوچت،شان وشوکت والامحلونه،شنه تازه باغونه،جاری نهرونه،خزانې،سلطنت،ملك،تخت و تاج،جاه ومال ټول پریښودل،بنی اسرائیلوپسې دمصرنه اووتل.اومونږداټول څیزونه بنی اسرائیلوته ورکړل چه هغوی ترننه پورې کمزوری وو.ذلیل او خوار وو.چونکه زمونږ اراده شوې وه.چه مونږددوی کمزوری ختمه کړواوداکمزوری خلق په ترقئ کړو اودوی پیشواووارثان جوړکړو.داارادە مونږپوره کړله.

فَأَتْبَعُوْهُمْ	مُّشْرِقِيْنَ ﴿۶۰﴾	فَلَمَّا	تَرَآءَ	
نورروان شو هغوئ په هغوی پسې | په وخت دختلو دنمر کښې انو هر کله چې|یوبل سره لیدل اوکړل				
هغوئ د نمر ختلو په وخت کښې بنی اسرائیلو پسې شول | هرکله چې				
الْجَمْعٰنِ	قَالَ	اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى	اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿۶۱﴾	قَالَ
دواړو ډلو | نو اووئیل| ملګرو دموسی | بیشکه مونږه اونیولې شو | اووئیل موسی				
دواړو ډلو یو بل ته کتل | نود موسی علیه السلام ملګرواووئیل |چې مونږ خوبس سم راګیر شو				
كَلَّا ۚ	اِنَّ مَعِيَ	رَبِّيْ	سَيَهْدِيْنِ ﴿۶۲﴾	فَاَوْحَيْنَآ	اِلٰى مُوْسٰٓى	
هرګزنئ | بیشکه ماسره | رب زما دي | چې لاربه ښائی ماته | نووحی اوکړه مونږه | موسی ته						
موسی علیه السلام اوفرمائیل چې هیڅکله نه بیشکه زما رب ماسره دي |هغه به راته لاره ښائی| هغه وخت مونږ						
اَنِ اضْرِبْ	بِّعَصَاكَ	الْبَحْرَ ؕ	فَانْفَلَقَ	فَكَانَ	كُلُّ فِرْقٍ	
چې اووهه | په همسا خپله | دادریاب | نو اوشلیدو هغه | پس شوه | هره حصه |						
موسی علیه السلام ته حکم اوکړو| چې په خپله همسا دریاب اووهه | نودریاب اوشلیدو|او(داوبو) یوه ټکړه						
كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿۶۳﴾	وَاَزْلَفْنَا	ثَمَّ	الْاٰخَرِيْنَ ﴿۶۴﴾	وَاَنْجَيْنَا		
پشان دغرلوئ | او رانزدې کړل مونږه | هغه ځائې ته | هغه بله ډله | او بچ کړو مونږه |						
دلوئې غر په شان شوه |اومونږ بله ډله (کافران) هم نزدې اورسول | اومونږ موسی علیه السلام						
مُوْسٰى وَمَنْ	مَّعَهٗٓ	اَجْمَعِيْنَ ﴿۶۵﴾	ثُمَّ اَغْرَقْنَا	الْاٰخَرِيْنَ ﴿۶۶﴾		
موسی |او هغه څوك | چې وؤ دهغه سره | ټول | بیا ډوب کړل مونږه | هغه نور خلق |						
اوهغه ملګری ټول بچ کړل | بیا دویم فریق (فرعونیان) مو ډوب کړل						
اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً ؕ	وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۶۷﴾	وَاِنَّ	
بیشکه | په دې کښې | یوه نښه ده | اونه دی اکثر ددې خلقو نه | ایمان راوړونکی | او بیشکه |						
بیشکه په دې واقعه کښې ډیر لوئې عبرت (پټ) دي |او په دوئ کښې زیات خلق ایمان نه راوړی						

Scanned with Ca

رَبُّكَ	لَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ ﴿۹﴾
رب ستا	خامخا هغه دي	غالب	ارحم کونکي
او بیشکه ستا رب غالب او مهربان دي			

قوله تعالی:- فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿۶۰﴾

دفرعونا وفرعونیانو عبرتناک انجام:- فرعون خپل ټول قوم اولښکر، ټول ماتحت، دمصر اودمصربهر خلق، خپل اودخپل قوم خلق ځان سره روان کړل. دیرپه تکبراوغرورسره دبنی اسرائیلوختمولو ارادي سره روان شو. بعضي وائی. چه دهغوی تعداد دلکهاؤ نه هم زیات وو. په هغوی کښي یولاکهٔ خوصرف په تورورنګ اسونو باندي سوارهٔ وو. لیکن داخبر داهل کتابودي. سوچ پکښي پکاردي. دکعب رضی الله عنه نه خونقل دی. چه اته لاکهه په داسي اسونوباندي سوارهٔ وو. زمونږ خوخیال دي چه داټول د بنی اسرائیلو دمبالغي نه ډک روایتونه دی. دومره خود قرآن نه ثابته ده. چه فرعون خپل ټول جماعت ځان سره روان کړو. خوقرآن د هغوی تعداد نه دي بیان کړي. نه ددي علم مونږته څه فائده راکونکي دي. دنمر راختلوپه وخت هغوی ته دوی اورسیدل. کافرانو مؤمنان، اومؤمنانو کافران اولیدل. دموسی علیه السلام دملګرودخلي نه بي اختیاره اووتل چه اي موسی! اوس وایه چه څه اوکړو. مونږ اونیولی شو. مخکښي قُلزم سمندردي. شاته د فرعون تباه کونکي سخت زړی لښکردي نه ځائي د پناه شته او نه پښي مزل کوی. بښکاره خبره ده چه دنبی او غیر نبی ایمان برابر نه شی کیدي. حضرت موسی علیه السلام ډیره په تسلئ سره جواب ورکوی. چه مه ویریږئ تاسو ته هیڅوک تکلیف نه شی رسولي. ماخپلي رانې سره تاسونه یئ راویستلی. بلکه داحکم الحاکمین په حکم سره مي راوستی یئ. هغه وعده خلاف نه دي. دهغي په مخکښي حصه باندي حضرت هارون علیه السلام وو. هم دهغهٔ سره یوشع بن نون وو. یاد آل فرعون مؤمن سړي وو. اوحضرت موسی علیه السلام د لښکرپه آخری حصه کښي وو. د ویري اود لارې د نه موندلوپه وجه ټول بنی اسرائیل حیران او پریشان شول. او ناقلارئ سره ئي دجناب کلیم الله نه تپوس اوکړو. چه هم په دي لاره دالله تعالی حکم وو؟ هغوی اوفرمائیل. آوپه دومره وخت کښي خوبه فرعونیان په سرباندي راوخیژی. دغه وخت د پروردګاروحی راغله. چه اي نبی! په دي دریاب باندي خپله همسا اووهه. اوبیا زما دقدرت کرشمه اوګوره. هغوی همسا اووهله. چه دهغي په لګیدوسره دالله په حکم اوبه اوشلیدي ددغه پریشانئ په وخت موسی علیه السلام دا دعا اوغوښتله. چه دابه ابن ابی حاتم کښي په دي الفاظوسره نقل ده. (یَامَنْ کَانَ قَبْلَ کُلِّ شَیْءٍ اَلْمَکُوْنُ لِکُلِّ شَیْءٍ وَالْکَائِنُ بَعْدَ کُلِّ شَیْءٍ اِجْعَلْ لَنَا مَخْرَجًا) دا دعا دموسی علیه السلام دخلي نه وتل وو. چه دالله تعالی وحی راغله. چه په سمندرباندي خپله همسا اووهه.

دریاب ته دالله تعالی حکم او دریاب شلیدل:- حضرت قتاده رضی الله عنه فرمائی. چه په دغه شپه الله تعالی سمندرطرفته دمخکښي نه حکم لیږلهوو. چه کله زماپیغمبرموسی علیه السلام راشی. اوتاپه لرګی اووهی. نودهغهٔ واوره اواومنه. پس په سمندرکښي ټوله شپه چپي وي. دهغي چپي یوخوابل خوا لګیدلي. چه نه معلوم حضرت کله اودکوم طرفه راشی. اوماپه لرګی اووهی. داسي نه چه ماته پته هم اونه لګی. اوزهٔ د هغهٔ حکم پوره نکړي شم. کله چه بالکل غاړي ته اورسیدلو. نودهغهٔ ملګری حضرت یوشع بن نون علیه السلام اوفرمائیل. اي دالله نبی! دالله تاسوته څه حکم دي؟ هغوی اوفرمائیل هم داچه زهٔ سمندرباندي خپله همسا اووهم. هغوی اوونیل. بیا دځهٔ انتظاردي؟ نوهغهٔ همسا اووهله اووي فرمائیل. دالله تعالی په حکم سره اوشلیږه. اوماته دتلو لاره راکړه. بس هغه وخت هغه اوشلیدلو. لاري په مینځ کښي صفاپه نظر راغلي. اودهغي یوخوا بل خوا اوبه دغرپشان شوي. په هغي کښي دولس لاري راووتلي. د بنواسرائیلو قبیلي هم دولس وي. بیادالله تعالی قدرت داچه دهر دوو ډلوپه مینځ کښي چه کوم غر حائل وو. په

Scanned with Ca

هغې کښې کهړکئ جوړې شوې.چه هریوه بل لره سلامتیا سره راتلونکی اوویني (۱).اوبه په شان د دیوالونو شوې.اوهواته حکم اوشو.هغې دمینځ نه اوبه او زمکه اوچه کړله،لاره ئې صفا کړله.پس په دغه اوچه لاره موسی علیه السلام سره دخپل قوم بې ویرې لاړلو.بیا فرعونیانو لره الله تعالی سمندرته نزدې کړل.بیاموسی علیه السلام اوبنی اسرائیلوتهولوته خلاصې ملاوشوه.اوپه هغوی کښې څوک هم ډوب نه شول.اوپه باقی ټولوکافرانوکښې څوک هم بچ نه شول.

د موسی علیه السلام او دریاب مینځ کښې مکالمه: حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی.فرعون ته چه کله دبنی اسرائیلو دتښتیدلوخبر ملاوشو.نوهغه یوه چیلئ ذبح کړله.اووې وئیل چه ددې دځرمن ویستلونه مخکښې دې ماته شپږلاکهه لښکر جمع کړې شی.موسی علیه السلام چه په منډو منډو کله دسمندر غاړې ته نزدې اورسیدلو.نوسمندرته ئې اوفرمائیل.ته اوشلیږه،یوطرف ته شه اومونږته ځائې راکړه. هغه اووئیل دا څه دتکبر خبرې کوې.آیا زهٔ ددې نه مخکښې هم کله چودلې یم.او یوطرف ته شوې یم،کوم انسان له مې ځائې ورکړې دی.چه تاته ئې درکړم.موسی علیه السلام چه کوم بزرګ سړې وو.هغوی اووئیل.چه ای دالله نبی! چه هم دا لاره اوهم دا ځائې الله تعالی ښودلې دې؟ موسی علیه السلام اوفرمائیل آوهم دا ځائې.هغوی اووئیل.بیاخونه تاسو دروغژن یئ نه تاسوته غلط فرمائیلی شوی دی.هغوی دوباره هم دا اووئیل لیکن بیاهم څه اونه شول.دغه بزرګ سړی دوباره هم دغه سوال جواب اوکړو.دغه وخت وحی نازله شوه.چه سمندرپه خپله همسا اووهه.اوس دهغوی خیال راغې اوپه همسائې اووهلو.په همسا وهلوسره سمندر لاره ورکړله.دولس لارې ښکاره شوې.هریوې ډلې خپله لاره اوپیژندله.اوپه خپله لاره روان شول. اویوبل ته ئې کتل په اطمینان سره ټول لاړل.حضرت موسی علیه السلام خوبنی اسرائیل ځان سره کړل پورې وتل.او فرعونیان په هغوی پسې سمندرته راورسیدل.چه دالله تعالی په حکم سره دسمندر اوبه څنګه وې هغه شان شوې.اوټول ئې ډوب کړل.کله چه دټولونه آخری بنی اسرائیلی راووتلو.اودټولونه آخری قبطی سمندرته راغې.دغه وخت دالله تعالی په حکم سره دسمندر اوبه یوځائې شوې.اوټول په ټوله قبطیان یوپه یو ډوب شول.په دې کښې ډیره عبرتناکه نښه ده.چه څنګه کنهګار تباه کیږی.اونیکان کامیابیږی.لیکن بیاهم اکثرخلق دایمان په شان دولت نه محروم دی.بیشکه ستا رب عزیز اورحیم دې.

وَاتْلُ	عَلَيْهِمْ	نَبَاَ			
	اولوله	په دوئ باند	قیصه		
	او رائې نبی ، دوئ ته، دابراهیم علیه السلام قصه				
اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾	اِذْ	قَالَ	لِاَبِيْهِ	وَقَوْمِهٖ	مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۷۰﴾
داابراهیم علیه السلام	کله چې	اوونیل هغه	پلار خپل ته	اوقوم خپل ته	دځه عبادت کوئ تاسو
هم واوروه	هرکله چې هغوئ خپل پلار اوخپل قوم ته اووئیل			چې دا تاسو د څه څیز عبادت کوئی	
قَالُوْا	نَعْبُدُ	اَصْنَامًا	فَنَظَلُّ	لَهَا	
اووئیل هغوئ	مونږه عبادت کوؤ	دبتانو	پس همیشه اوسیږو مونږ	دې بتانو ته	
هغوئ اووئیل چې مونږ د بتانوعبادت کوو		اوهم دهغوئ په عبادت قائم یو			

(۱) الطبری: ۳۵۷/۱۹.

Scanned with Ca

عٰكِفِيْنَ ﴿۷۱﴾	قَالَ	هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ	اِذْ	تَدْعُوْنَ ﴿۷۲﴾
نزدې کيناستونکی	اووئيل ابراهيم	ايا اوری دوئ خبری ستاسو		کله چې	تاسو اواز کوئ دوئ ته
ابراهيم عليه السلام ورته اووئيل چې ايا دوئ ستاسو خبره اوريدې شی				کله چې تاسو دوئ رابلئ ؟	
اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ	اَوْ يَضُرُّوْنَ ﴿۷۳﴾	قَالُوْا	بَلْ وَجَدْنَآ	
يا دوئ فائده رسوی تاسو ته	يا ضرر دررسوی تاسو ته	اووئيل هغوئ	بلکه موندلی دی مونږه	
يا تاسو ته څۀ ضرر يا فائده درکولې شی ؟		هغوئ اووئيل چې نه ،مونږ خو بس		
اٰبَآءَنَا	كَذٰلِكَ	يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۴﴾	قَالَ	اَفَرَءَيْتُمْ	مَّا
پلاران زمونږه	چې دارنګې	کار به ئې کولو	اووئيل ابراهيم	ايا نو کتلی دی تاسو	هغه بتانوته
خپل پلار نيکه په دې کار دغسې موندلی دی		ابراهيم عليه السلام اووئيل چې ايا تاسو ددغې			
كُنْتُمْ	تَعْبُدُوْنَ ﴿۷۵﴾	اَنْتُمْ	وَاٰبَآؤُكُمُ	الْاَقْدَمُوْنَ ﴿۷۶﴾	
چې يئ تاسو	چې عبادت ئې کوئ	تاسو	او پلاران ستاسو	چې مخکښې تير شوی دی	
معبودانو حالت هم ليدلې دې	تاسو يا ستاسو پخوانو پلارنيکونو				
فَاِنَّهُمْ	عَدُوٌّ لِّيْٓ	اِلَّا	رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۷﴾		
پس بيشکه چې دوئ	دشمنان دی زما	مګر نه	رب دمخلوقاتو		
هغه ټول زما دښمنان دی	سوا دهغه رب العالمين نه کوم چې زه پيدا کړم				

قوله تعالی:- وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾

د حضرت ابراهيم عليه السلام دعوت توحيد:- دټولو مؤحدينو دپلار،دالله تعالی دبنده اورسول اوخليل حضرت ابراهيم عليه افضل التحيۃ والتسليم واقعه بيانيږی.نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته حکم کولې شی.چه تاسوخپل اُمت ته داواقعه واوروئ.چه هغوی په اخلاص،توکل،اود يورب عبادت،اود شرک اومشرکانونه بيزارئ کښې ستاسو اقتدا اوکړی.هغوی د اول ورځې نه دالله تعالی په توحيد باندې قائم وو.او آخر ورځې پورې په دې توحيد باندې کلک ولاړوو.خپل قوم اوخپل پلارته ئې اوفرمائيل.چه دا بُت پرستی ولې کوئ.

قوله تعالی:- قَالُوْا نَعْبُدُ

د قوم جواب:- هغوی جواب ورکړو.چه مونږ خو دپخوانه ددې بُتانو مجاوری اوعبادت کونکی راروان يو.حضرت ابراهيم عليه السلام دهغوی داغلطی په هغوی باندې واضحه کړله.دهغوی دغلطې طريقې بنکاره کولو دپاره ئې يوه خبره بله هم بيان کړله.چه تاسو ددوی نه دعاګانې غواړئ.اود لرې اونزدې نه دوی رابلئ.نوآيا دوی ستاسو آواز آوری؟ يادکومې نفعې حاصلولودپاره چه تاسو دوی رابلئ.آيا هغه نفع دوی تاسوته در رسولې شی؟ که تاسوددوی عبادت پريږدئ نوآيا دوی تاسوته نقصان در رسولې شی؟ .ددې کوم جواب چه دقوم دطرفه ملاوشو.هغه صفابنکاره دې.چه ددوی معبودان په دې کارونوکښې يو کارهم نه شی کولې.هغوی صفا اووئيل چه مونږخو دخپلو مشرانو دتقليدپه وجه بت پرستئ باندې کلک ولاړيو.

دقوم په جواب د ابراهيم عليه السلام وينا:- ددې په جواب کښې حضرت خليل الله عليه السلام دهغوی نه اودهغوی باطلو معبودانو نه دخپل براءت اوبيزارئ اعلان اوکړو.صفا ئې اوفرمائيل.چه ستاسو اوستاسوهغه معبودان دکوم چه تاسو اوستاسو پلار نيکونو عبادت کولو.دهغې ټولونه زه بيزاره يم.داټول زما دشمنان دی.زۀ

صرف د ربښتونې رب عبادت کونکې یم.زۀ مخلص موحدیم.لارشئ ستاسو او ستاسو دمعبودانونه چه څه کیدې شی اوکړئ.

د نوح ﷺ او هود ﷺ هم دغه شان جواب وو:-حضرت نوح ﷺ خپل قوم ته هم دا فرمائیلی وو.چه تاسو اوستاسوټول معبودان که ملاوشئ اوماته څه نقصان رارسولې شئ،نوځه کمی مه کوئ.حضرت هود ﷺ هم فرمائیلی وو.زۀ ستاسونه اوستاسو دمعبودانونه دالله تعالی نه سوا دټولونه بیزاره یم.تاسوټول که ماته څه نقصان رارسولی شئ نو راورسوئ! زما بهروسه دخپل رب په ذات باندې ده.ټول ساه لرونکی د هغۀ دحکم لاتدې دی.هغه نیغې لار والادې.دغه شان خلیل الرحمن ﷺ اوفرمائیل.چه زۀ ستاسو د معبودانو نه بالکل نه ویریږم.ویره خوتاسوله زما درب نه ساتل پکاردی.چه هغه الله تعالی دې.هغوی اعلان کړې وو.چه په ما او تاسو کښې دشمنی ده.چه ترڅو پورې تاسوپه یوالله باندې ایمان رانه وړئ.اې پلاره! زه ستانه او ستادقوم او ستاد معبودانونه بیزاره یم.صرف دخپل رب نه مې امید دې.چه هغه ماته نیغه لار اوښائی.هم دا یعنی ((لاَ الهَ الاَّ الله)) لره هغوی کلمه جوړه کړله.

الَّذِیْ خَلَقَنِیْ	فَهُوَ	یَهْدِیْنِ ۙ﴿۷۸﴾	وَالَّذِیْ	هُوَ یُطْعِمُنِیْ
هغه رب چې پیدا ئې کړم زۀ	پس هغه	لار ښائی ماته	او هغه رب	چې هغه	خوراك راکوی ماته	
او هم هغه ما ته سمه لار ښائی	او هم هغه رب چې ماباندې خوروی څکوی			
وَیَسْقِیْنِ ۙ﴿۷۹﴾	وَاِذَا	مَرِضْتُ	فَهُوَ	یَشْفِیْنِ ۙ﴿۸۰﴾	وَالَّذِیْ
اواوبۀ راکوی ماته	او کله چې	ناجوړه شم زۀ	نوهغه	شفا راکوی ماته	او هغه رب	
اوڅه وخت چې زه بیمار شم	انو هم هغه ماته شفا راکوی	او هم (هغه الله ﷻ به)			
یُمِیْتُنِیْ	ثُمَّ یُحْیِیْنِ ۙ﴿۸۱﴾	وَالَّذِیْۤ	اَطْمَعُ	اَنْ یَّغْفِرَ	لِیْ
چې مرکوی به ما	بیا به ژوندې کوی ما	او هغه رب	چې امید لرم زۀ	چې اوبه ببښی	ماته	
راته په وخت مرګ راکوی	اوبیابه مې ژوندې کوی	اوهغه (الله ﷻ) چې دکوم نه زه امیدلرم			
خَطِیْٓـَٔتِیْ	یَوْمَ الدِّیْنِ ؕ﴿۸۲﴾				
ګناهونه زما	په ورځ دجزاء (قیامت)				
چې زماګناهونه بۀ دقیامت په ورځ اوبخښی					

قوله تعالی:- وَالَّذِیْ هُوَ یُطْعِمُنِیْ وَیَسْقِیْنِ ۙ﴿۷۹﴾

زما الله څوک دې؟ حضرت خلیل الله ﷺ دخپل رب صفتونه بیانوی.چه زۀ خوددې صفتونو والا درب عبادت کونکې یم.دهغۀ نه سوا بل دهیچا عبادت به نه کوم.رومبې صفت داچه هغه زما خالق دې. هم هغۀ اندازه مقررکړې ده.اوهم هغه دمخلوقاتو هغې طرف ته رهبری کوی.دویم صفت داچه هغه حقیقی هادی دې.چاله چه غواړی په خپله لارئې روانوی.چاله چه غواړی په غلط لارئې روانوی.دریم صفت زما درب دادې.چه هغه رزاق دې.دزمکې اوآسمان ټول اسباب هغۀ پیداکړی دی.دوریخو پورته کول، خوړول، دهغې نه باران ورول،په هغې سره زمکه ژوندئ کول (شنه کول) بیا پیداوار زرغونول هم دهغۀ کار دې.هم هغه خوږې او تنده ماتونکې اوبه مونږته راکوی.اوخپل نورمخلوق ته هم.غرض داچه خوراك څکاك ورکونکې هم هغه دې.ورسره بیماری او تندرستی هم دهغۀ په لاس کښې ده.

Scanned with Ca

دمکروه څیزونو نسبت الله ﷻ ته نه دي پکار: لیکن دخلیل الله علیه السلام د ادب کمال اوګورئ.چه دبیماریئ نسبت نې خوخپل طرف ته اوکړو.اودشفا نسبت نې الله تعالی طرف ته اوکړو.اګرچه بیماری هم دهغهٔ قضاء اوقدرت سره اودهغهٔ جوړشوی څیزدي. هم دا لطافت د سورهٔ فاتحه په دعاکښې هم دي.چه د انعام اوهدایت اسناد خود عالم رب طرف ته شوې دي.اود غضب فاعل نې حذف کړې دي.اوضلالت نې بنده طرف ته منسوب کړې دي.په سورهٔ جن کښې دجناتو قول هم اوګورئ.چه هلته هغوی ونیلی دی.چه مونږته معلومه نه ده چه د زمکې مخلوق سره د بدئ اراده کړې شوې ده.یادوی سره ددوی رب د خیر اراده کړې ده؟ دلته هم دخیرنسبت رب طرف ته شوې دي.اود بدئ په اراده کښې دانسبت نه دي ښکاره کړې شوې.دغه شان دآیت هم دي.چه کله زهٔ بیمارشم.نوزما په شفا باندې ددې الله تعالی نه سوا بل څوک قادرنه دي.په دوائی کښې تاثیرپیداکول هم دهغهٔ د وس څیزدي.په مرګ اوژوند باندې هم قادرهغه دي.ابتداء او انتهاء دهغهٔ په لاس کښې ده. هم هغهٔ رومبې پیدائش کړې دي.هغه به دوباره پیداکول کوی.په دنیا اوآخرت کښې دګناهونوپه بخښلوهم هغه قادردي.هغه چه څه غواړی کوی.غفور اورحیم دي.

رَبِّ	هَبْ لِيْ	حُكْمًا	وَّاَلْحِقْنِيْ	
اے ربه زما	راکړه ماته	حکم (حکمت)	او پیوست کړې ما	
اې زما ربه ماته حکمت (د دین پوهه) راکړه	اوما په			
بِالصّٰلِحِيْنَ ۙ﴿۸۳﴾	وَاجْعَلْ لِّيْ	لِسَانَ صِدْقٍ	فِي الْاٰخِرِيْنَ ۙ﴿۸۴﴾	وَاجْعَلْنِيْ
دصالحانو سره	اواوګرځوه ما	ژبه د صدق	په روستو خلقو کښې	اواوګرځوه ما
خپلو نیکانوبندګانو کښې شامل کړه	او زما دنیکنامئ ذکر په راتلونکو نسلونو کښې جاری اوساته			
مِنْ وَّرَثَةِ	جَنَّةِ النَّعِيْمِ ۙ﴿۸۵﴾	وَاغْفِرْ	لِاَبِيْٓ	اِنَّهٗ كَانَ	مِنَ الضَّآلِّيْنَ ۙ﴿۸۶﴾
دوارثانو	دجنت دنعمتونونه	اواوبښه	پلار زما	بیشکه چې دې هغه	دګمراهانونه
اومادنعمتونو نه دډک جنت وارث کړه	او زما پلار هم اوبښهٔ	بیشکه هغه په ګمراهانو کښې شامل دې			
وَلَا تُخْزِنِيْ	يَوْمَ	يُبْعَثُوْنَ ۙ﴿۸۷﴾	يَوْمَ	لَا يَنْفَعُ
اومهٔ شرمنده کوه ما	په هغه ورځ	چې راپورته کولې به شي دا خلق	په هغه ورځ	چې څه فائیده به نهٔ کوی
اوپه هغه ورځ مې مه شرموه	چې خلق به بیا راژوندی کړی شی	په کومه ورځ چې به نه		
مَالٌ	وَّلَا بَنُوْنَ ۙ﴿۸۸﴾	اِلَّا	مَنْ	اَتَى اللّٰهَ	بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ۘ﴿۸۹﴾
مال	اونهٔ اولاد	ماسوا	دهغه چانه	چې راشی الله ته	په زړهٔ سلامت سره
مال فائده ورکوی او نه اولاد	خو څوک چې الله ﷻ ته (دشرک اوګناهونونه) پاک زړهٔ یوسی			

قوله تعالی:- رَبِّ هَبْ لِيْ حُكْمًا

اخرکښې د ابراهیم علیه السلام یو څو دعا ګانې: دحُکم نه مراد عام عقل الهامی کتاب اونبوت دي.هغوی دالله ﷻ نه دعاکوی چه ماته داځیزونه رانصیب کړي.په دنیا اوآخرت کښې مې په نیکانوخلقوکښې شامل کړي.په صحیح حدیث کښې دی چه رسول کریم ﷺ هم په آخری وخت کښې دعا غوښتلې وه چه اې الله! په اعلی

رفیقانو کښې مې ملاوکړې.دری ځل ئې دا دعا کړې وه([1]).په یوحدیث کښې دنبی کریمﷺ دادعا هم نقل ده.((اَللّٰهُمَّ اَحْيِنَا مُسْلِمِيْنَ وَاَمِتْنَا مُسْلِمِيْنَ وَاَلْحِقْنَا بِالصَّالِحِيْنَ غَيْرَخَزَايَا وَلَا مُبَدِّلِيْنَ)) ([2])یعنی ای الله! مونږ په اسلام باندې ژوندې اوساته،اودمسلمانئ په حالت کښې مرګ راکړې،اوپه نیکانوکښې مو ملاو کړې،په داسې حال کښې چه نه رسوائی وی نه تبدیلی.

بیابله دعاکوی چه زمانه پس هم زما ذکرخیرپه خلقوکښې جاری وی.خلق په نیکو خبروکښې زما اقتداکوی.الله تعالی هم دهغهٔ ذکرپه روستو نسلونوکښې باقی اوساتلو.هر یوپه هغهٔ باندې سلام لیږی. الله تعالی دهیڅ یونیك بنده نیکی نه بیکاره کوی.یوه دنیا ده چه دهغوی په ژبودهغوی تعریف او صفت جاری دی.په دنیاکښې هم الله تعالی هغوی ته اوچت شان اوخیر ورکړو.عام طورباندې دهر مذهب اوملت خلق خلیل اللهﷺ سره محبت ساتی.اودعاکوی چه زما ذکرخیرځنګه په دنیاکښې باقی دی.هلته په آخرت کښې هم جنتی جوړکړې شم.اوای الله! زما ګمراه پلارهم معاف کړې.لیکن دخپل کافر پلار دپاره دااستغفار کول په یوه وعده باندې وو.کله چه هغهٔ ته بیکاره شوه.چه هغه (پلار) دالله دشمن دی.کله چه هغه په کفرباندې مړشو.نودهغهٔ دزړهٔ نه دهغهٔ عزت اومحبت ختم شو.اواستغفار کول ئې هم پریښودل.ابراهیم ډیرصفا زړهٔ والا اوصبرناك وو.مونږته هم چه څنګه د ابراهیمﷺ په طریقه باندې دتلوحکم ملاوديې هلته داهم فرمائیلی شوی دی.چه په دی خبره کښې دهغوی تابعداری مه کوئ.بیا دعاکوی.چه مادقیامت د ورځې د رسوایئ نه بچ کړې.کله چه ټول مخکښې روستو مخلوق ژوندی شی.اوپه یومیدان کښې به ولاړوی.رسول اللهﷺ فرمائی.چه دقیامت په ورځ به دحضرت ابراهیمﷺ خپل پلارسره ملاقات اوشی.هغه به اووینی چه دهغهٔ مخ به د ذلت او ګردوغبارنه ګنده وی([3]).په بل روایت کښې دی.چه هغه وخت به هغوی دالله تعالی په دربارکښې عرض اوکړی.چه ای پروردګارا! ستا ماسره وعده ده.چه مابه دقیامت په ورځ نه رسواکوې.الله تعالی به اوفرمائی.واوره جنت خوپه کافرباندې قطعًا حرام دی([4]).په بل روایت کښې دی چه ابراهیمﷺ به خپل پلارپه دې حالت کښې اووینی اوبه فرمائی.چه اوګوره ما تاته نه وئیل چه زما نافرمانی مه کوه.پلاربه جواب ورکړی چه نن اوس به نه کوم.هغوی به دالله تعالی په دربارکښې عرض اوکړی.چه ای پرودګارا! تا ماسره وعده کړې ده چه په دې ورځ به مانه رسواکوې.اوس به ددې نه زیاته څه رسوائی وی.چه زماپلار دداسې رحمت نهلرې دی.الله تعالی به اوفرمائی.چه ای زماخلیلاماخوجنت په کافرانوباندې حرام کړې دی. بیابه اوفرمائی ای ابراهیماوګوره ستادخپولاندې څه دی؟هغویﷺ به لاندې اوګوری چه یوبدشکله ورڅوکې ځناور په ختو او اوبوکښې لت پت ولاړدی.چه هغه به دخپونه اونیولې شی جهنم کښې به اوغورزولې شی([5]).حقیقت کښې هم دغه به دهغوی پلاروی. چه هغه به په دې شکل کښې شوې وی.اوخپل مقرر خاني ته به اورسولې شی.

قیامت کښې به صرف ایمان پکارراځی مال اولاو نه :پدغه ورځ که انسان خپله فدیه مال سره اداکول اوغواړی. اګرچه دټولې دنیا خزانې ورکړی لیکن هیڅ فائده به نه وی.نه به په دغه ورځ اولاد فائده ورکوی که ټولې زمکې والا په خپله بدله کښې ورکول اوغواړی.بیابه هم فائده نه وی.په دغه ورځ نفع ورکونکې څیزایمان اخلاص،اود شرك اواهل شرك نه بیزاری ده.دچا زړهٔ چه صالح وی.یعنی دشرك او

---

[1]) صحیح بخاری کتاب المغازی باب مرض النبی صلی الله علیه وسلم ووفاته : ٤٤٣٧.

[2]) احمد: ٤٢٤/٣. وسنده صحیح.

[3]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الشعراء باب ﴿ ولا تخزنی یوم یبعثون.....﴾ ٤٧٦٨.

[4]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الشعراء باب ﴿ ولا تخزنی یوم یبعثون.....﴾ ٤٧٦٩.

[5]) صحیح بخاری کاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی ﴿ واتخذ‌الله ابراهیم خلیلا﴾ : ٣٣٥٠.

Scanned with Ca

کفرخیرنوالی نه صفا وی.الله ربښتونې منی.قیامت یقینی منی.په دوباره ژوندی کیدو باندې ایمان لری.دالله د توحید منونکې وی.عمل کونکې وی.په نفاق وغیره سره ئې زړۀ مریض نه وی.بلکه د ایمان اواخلاص اونیك عقیدې سره ئې زړۀ صحیح اوتندرست وی.د بدعتونونه نفرت لری.او سنت سره اطمینان او الفت لری!

وَاُزْلِفَتِ	الْجَنَّةُ	لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٩٠﴾	وَبُرِّزَتِ	الْجَحِيْمُ
او نزدې به کړې شی	جنت	ادپاره دپرهیزګارانو	او ښکاره به کړې شی	دوزخ
او په کومه ورځ چې بډ نیکانو ته جنت نزدې کړې شی				.....او ګمراهانو ته بډ دوزخ ښکاره کړې شی
لِلْغٰوِيْنَ ﴿٩١﴾	وَقِيْلَ	لَهُمْ	اَيْنَمَا	كُنْتُمْ
دپاره دګمراهانو	اواوبه وئیلې شی	هغوئ ته	کوم خائې دی هغه معبودان	چې وئ تاسو
او ورته به اووئیلې شی				چې تاسو به ئې دالله د عبادت
تَعْبُدُوْنَ ﴿٩٢﴾	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ	اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٩٣﴾	
چې عبادت به موکولو	بې دالله نه	ایا مدد کوی هغوئ ستاسو	یا مدد کوی دخان خپل	
نه بغیر عبادت کولو		ایا هغوئ نن ستاسو مدد کولې شی	یا بدله اخستې شی ؟	
فَكُبْكِبُوْا	فِيْهَا	هُمْ	وَالْغَاوٗنَ ﴿٩٤﴾	وَجُنُوْدُ اِبْلِيْسَ
نو اوبۀ غورزولې شی نسکور	په هغې کښې	هغوئ	او ګمراهان	او لښکر دابلیس
نو ییابه دغه معبودان او ګمراهان ټول په دوزخ کښې پرمخې واچولې شی				اودشیطان لښکرې
اَجْمَعُوْنَ ﴿٩٥﴾	قَالُوْا	وَهُمْ	فِيْهَا	يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٩٦﴾
ټول	اووائی به هغوئ	او حال داچې هغوئ به	په هغې کښې	جګړه کوی
به ورسره هم وی	انو کافران به په دوزخ کښې یو بل سره جګړې کوی			
تَاللّٰهِ	اِنْ كُنَّا	لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٩٧﴾	اِذْ نُسَوِّيْكُمْ	
قسم په الله دې	اچې ووۀ مونږه	خامخا په ګمراهئ ښکاره کښې	چې برابر ولئ مونږ تاسو	
اوداسې به وائی	اچې قسم مونږ په څرګند ګمراهئ کښې پراته وو		چې تاسو مو د رب	
بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٨﴾	وَمَآ اَضَلَّنَآ	اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٩٩﴾	فَمَا لَنَا	
درب العالمین سره	اونۀ ووۀ ګمراهه کړی مونږه	مګر مجرمانو خلقو	پس نشته دې مونږ لره	
العالمین سره برابر ګنړلئ	اومونږ خو بل چا نۀ بلکه دې مشرانو مجرمانو ګمراه کړو			
مِنْ شَافِعِيْنَ ﴿١٠٠﴾	وَلَا صَدِيْقٍ	حَمِيْمٍ ﴿١٠١﴾	فَلَوْ اَنَّ	لَنَا
څوك سفارش کونکې	اونۀ دوست	اخوږ مخلص	پس کاش که وی	مونږ لره
نو اوس هیڅوک زمونږ سفارشی نشته دې		اونه څوک اخلاص مند ملګرې شته	نوځنګه به	
كَرَّةً	فَنَكُوْنَ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٢﴾	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ
یو ځل بیا واپس تلل	نو شو به مونږه	دمومنانونه	بې شکه	په دې (قیصه) کښې
نبه وی که(دنیا ته) یوځل دواپس تلو موقع راکولې شوې			نو مونږ به مسلمانان شوی وو	بیشکه

لَاٰيَةً ؕ	وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ
خامخا نښه دعبرت ده	اونۀ دی اکثر ددوئ	مؤمنان	او بیشکه	رب ستا	خامخا هم هغه
په دې واقعه کښې لوئې سبق پروت دې	او ددوئ اکثر خلق ایمان نه راوړی		اوبیشکه رب ستا		
الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۴﴾	كَذَّبَتْ	قَوْمُ نُوْحِ	الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۰۵﴾	
غالب دې	مهربانه دې	دروغ اوګنړل	قوم دنوح	رسولان	
دیر زبردست او مهربان دې	دنوح علیه السلام قوم پیغمبران دروغژن اوګنړل				

قوله تعالی:-وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۹۰﴾

د نیکئ نیکه اودبدئ بده بدله اودکافرانود بدحالت بیان:-کوموخلقوچه نیکئ کړې وې،دګناهونونه ئې ځان ساتلې وو.جنت به په دغه ورځ هغوی سره نزدې هغوی ته مخامخ زینت اوښائسته سره موجود وی.او سرکشی کونکودپاره به دغه شان جهنم ښکاره وی.دهغې نه به یوسټ راوځی چه هغه به ګنهګارو طرف ته په غضبناکو سترګو سره ګوری.اوداسې شوربه جوړکړی.چه زړونه به وارخطاء شی.ځیګربه په رییدو شی.او مشرکانوته به په رټلواوملامتیا سره اوفرمائیلې شی چه ستاسوهغه باطل معبودان چرته دی دچاچه به تاسوالله نه سوا عبادت کولو.آیا هغوی ستاسوڅه مددکولې شی.یا دخپل ځان څه مددکولې شی؟ نه نه بلکه عبادت کونکی اومعبودان ټول به دوزخ کښې الټه رازوړندکړې شی.او سوزیدلې تیکې به شی.تابع اومتبوع ټول به لاندې باندې جهنم ته اوغورزولې شی.ورسره به د ابلیس ټول لښکرهم داول نه واخله ترآخره پورې وی.هلته به کمزوری خلق لویوخلقوسره جهګړه کوی.او ورته به وائی چه مونږټول عمرستاسو اومنله.نن تاسو دعذابونونه مونږولې نه خلاصوئ؟ ربښتیا خودادی چه مونږ بالکل ګمراه وو.د لارې نه لرې شوی وو.چه ستاسوحکمونه موداالله دحکمونوپه شان ګنړلی وو.او رب العالمین سره مو ستاسوهم عبادت کولو.ګویا تاسومو رب سره برابر ګنړلی وئ.افسوس چه مونږ لره په دې غلط اوخطرناک لاره باندې مجرمانو اوساتلو.اوس خو زمونږڅوک سفارش کونکې هم نشته. خپل مینځ کښې به تپوسونه کوی چه آیا څوک زمونږ شفاعت کونکې شته چه هغه زمونږ شفاعت اوکړی.یا داسې هم کیدې شی چه مونږدوباره دنیا طرف ته واپس کړې شو؟او هلته لاړشو.تراوسه پورې چه مونږکوم عملونه کړی وودهغې خلاف عمل اوکړو.چرته چه زمونږڅوک سفارشی مونږته په نظرنه راځی هلته څوک نزدې ربښتونې دوست هم نه ښکاری. چه هغه زمونږ همدردی اوغمخواری اوکړی. ځکه چه هغه ته پته ده.چه که یوصالح سړی سره زمونږ دوستی وې.نوهغۀ به نن ضرورمونږته نفع راکړې وې.اوکه څوک زمونږ دزړۀ محبوب وې نوضروربه زمونږ شفاعت دپاره رامخکښې شوې وې. اوکه مونږته بیا دنیاته تلل ملاویدلې.نومونږبه په خپله ددې بدوعملونو پوره والی کړې وې.لیکن حق خو دادی چه که دا بدبخت ازلی دوباره هم دنیاته راوستلې شی.نوهم هغه بدعملونه به دوباره شروع کړی.په سورۀ ص کښې هم ددې جهنم والو دجهګړې بیان کولو کښې الله تعالی فرمائیلی دی چه د دوی دا جهګړه به په یقین سره وی.

قوله تعالی:-اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ

ابراهیم علیه السلام چه خپل قوم ته څه اوفرمائیل اوکوم دلیلونه ئې چه هغوی ته ورکړل.اوپه هغوی ئې توحید واضح کړو.په هغې کښې یقیناًالله الوهیت باندې اودهغۀ په یووالی باندې صفادلیل موجود دې. لیکن بیاهم اکثرخلق دایمان نه منع شوی دی.په دې کښې هم څه شك نشته چه ستاپالونکې پروردګار پوره غلبې اوقوت والا اوبخښونکې اورحم والادې.

Scanned with Ca

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ ِالْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِذْ قَالَ

| دروغ اوګنړل | قوم دنوح | رسولان | کله چې اوونیل

|دنوح علیه السلام قوم پیغمبران دروغژن اوګنړل | څه وخت چې د هغوئ (دبرادرئ)

لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ

هغوئ ته | رور دهغوئ | نوح علیه السلام | آیا نه یریږئ تاسو | بیشکه زه | دپاره ستاسو | رسول

رور نوح علیه السلام ورته اووئیل |چې آیا تاسو دالله ﷻ نه نه ویریږئ ؟ |بیشکه زه تاسوته امانت دار پیغمبر

اَمِيْنٌ ﴿۱۰۷﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ

امانتدار یم | پس اویریږئ دالله نه | او خبره اومنئ زما | اونه غواړم زه ستاسو نه | په دې باندې

رالیږلې شوې یم | نودالله ﷻ نه اوویریږئ |او زما تابعداری اوکړئ | او زه ستاسو نه څه

مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

څه اجر | نه دې اجر زما | مګر | په رب دمخلوقاتو باندې | نو اویریږئ دالله نه |

اجر نه غواړم |زما اجر خو درب العالمین په ذمه دې |نو الله ﷻ نه اوویریږئ |

وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۱۰﴾

اوخبره اومنئ زما |

اوزما تابعداری اوکړئ |

قوله تعالی:- فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۱۰﴾

د نوح علیه السلام بې لوثه د توحید دعوت: په زمکه باندې چه دټولونه مخکښې کله بُت پرستی شروع شوه. او خلق دشیطان په لارو روان شول.نوالله تعالی دخپلو اولوالعزم رسولانوسلسله دحضرت نوح علیه السلام نه شروع کړله. هغوی راغلل اوخلق ئې دالله دعذابونونه اویرول.اودهغۀ دسزاګانونه ئې هغوی خبرکړل. لیکن هغوی دخپلو ناپاکو عادتونونه منع نه شول.دغیرالله عبادت ئې پرې نخودلو.بلکه حضرت نوح علیه السلام ته ئې دروغژن اوونیل.دهغۀ دشمنان جوړشول.اوهغه ته ئې تکلیفونه رسول شروع کړل. د حضرت نوح علیه السلام دروغژن ګنړل ګویا دټولو پیغمبرانونه انکارکول وو.په دې وجه آیت کښې اوفرمائیلی شو چه دنوح علیه السلام قوم پیغمبران دروغژن اوګنړل.

حضرت نوح علیه السلام مخکښې خوهغوی ته دالله تعالی نه دویرې ساتلونصیحت اوکړوچه تاسوکوم د غیرالله عبادت کوئ.نودعذاب الله نه تاسونه ویریږئ.لکه څنګه ئې چه دتوحید دتعلیم نه پس دخپل رسالت تلقین اوکړو.اووې فرمائیل.چه زه تاسوطرف ته دالله رسول جوړشوې راغلې یم.اوزۀ امانت داریم.دهغۀ پیغام هوبهوهغه دې کوم چه تاسوته اوروم.پس تاسوله خپل زړونه دالله د ویرې نه ډک ساتل پکاردی. او زما تولې خبرې بغیر دڅه چل ول نه منل پکاردی.

قوله تعالی:- وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ

د هر نبی بیان صرف دالله ﷻ دپاره وو:- او واورئ زه ستاسونه په دې تبلیغی رسالت باندې څه اجرت نه غواړم.زما مقصد ددې نه صرف دادې چه زمارب ماته ددې بدله او ثواب راکړی.پس تاسو د الله تعالی

Scanned with Ca

نه اویریږئ.اوزما وینا اومنئ:زما رښتیا اوزما خیرخواهی په تاسوښه ښکاره ده.زما دیانت داری نوره هم په تاسو واضحه ده.

قَالُوْٓا	اَنُؤْمِنُ	لَكَ	وَاتَّبَعَكَ	الْاَرْذَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾
اووئیل هغوئ	ایامونږه اومنو	ستا	حال داچی پیروی کړی ده ستا	رذیلانو خلقو
هغوئ اووئیل ایامونږ په تاباندې ایمان راوړو			حالانکه ستا تابعداری نیچ خلقو کړې ده	
قَالَ	وَمَا عِلْمِيْ	بِمَا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۲﴾
اووئیل نوح	اونشته علم ماته	په هغه عمل	چی وؤ هغوئ	چی کول به ئې
نوح ﷺ اووئیل چې ماته خو معلوم نه دی چې هغوئ څه کوی ؟				اد هغوئ معامله
اِنْ	حِسَابُهُمْ	اِلَّا	عَلٰى رَبِّيْ	لَوْ تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾
نه دې حساب ددوئ		مګر	په رب زما دې	که پوهیږئ تاسو
وَمَآ	اَنَا	بِطَارِدِ	الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۴﴾	
اونه یم زه		شړونکې دمومنانو		
زما درب سره ده	اکاش چې تاسو په خبره پوهیدلئ		اوزه مومنان دځان نه شړلې نشم	
اِنْ	اَنَا	اِلَّا	نَذِيْرٌ	مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۵﴾
نه یم زه	مګر	یرونکې یم		ښکاره
قَالُوْا	لَئِنْ	لَّمْ تَنْتَهِ	يٰنُوْحُ	
اووئیل هغوئ		که چرې	منع نه شوې ته	اے نوح
زه خو نور څه نه یم خو یو ښکاره یرونکې یم				اهغوئ اووئیل چې ائې نوح ﷺ که ته (ددې خبرونه) منع نه
لَتَكُوْنَنَّ	مِنَ الْمَرْجُوْمِيْنَ ﴿۱۱۶﴾	قَالَ	رَبِّ	اِنَّ
نو خامخا به شې ته		دویشتل شوؤ نه په ګټه یا په کنځلو	اووئیل نوح علیه السلام	اے ربه
شوې انو خامخا به سنګسار کړې شې				نوح ﷺ دعا اوکړه چې ائې زمار به ! زما
قَوْمِيْ	كَذَّبُوْنِ ﴿۱۱۷﴾	فَافْتَحْ	بَيْنِيْ	وَبَيْنَهُمْ
قوم زما		پس فیصله اوکړه	په منځ زما	او په منځ ددوئ کښې
قوم ماته دروغژن اووئیل				نو ته زما او ددوئ په مینځ کښې فیصله اوکړې
فَتْحًا	وَّنَجِّنِيْ	وَمَنْ	مَّعِيَ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۸﴾
فَاَنْجَيْنٰهُ				
او نجات راکړه ماته	او هغه چاته	چې زما سره دې	دمومنانونه	پس نجات ورکړو مونږ هغه له
اومالله او زما ایمانداران				او ملګرو ته نجات راکړې بیا مونږ هغه ته
وَمَنْ	مَّعَهٗ	فِي الْفُلْكِ	الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۱۹﴾	ثُمَّ اَغْرَقْنَا
او هغه چاله	چې دهغه سره وؤ	په کشتئ	دکه کښې	بیا غرق کړل مونږ
بَعْدُ				
روستو دهغوئ نه				
اوهغه سره په بیړئ کښې سوارهٔ ملګرو ته نجات ورکړو				اوبیامو باقی پاتې خلق ډوب کړل
الْبٰقِيْنَ ﴿۱۲۰﴾	اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	وَمَا كَانَ	اَكْثَرُهُمْ
باقی پاتې خلق	بیشکه په دې کښې		خامخا نښه ده	اونه وؤ
بیشکه په دې واقعه کښې لوئې عبرت دې			او په دوئ کښې زیات خلق ایمان نه راوړی	
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾				
اکثر دهغوئ نه				اومومنان (منونکی)

وَاِنَّ رَبَّكَ	لَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ ﴿۱۹۱﴾
او بیشکه رب ستا	خامخا هغه	غالب دي	مهربانه دي
اوبیشکه ستارب غالب او مهربان ذات دي			

قوله تعالی:- قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

د قوم بې وقوفانه جواب:- دنوح علیه السلام قوم دپیغمبر دپیغام جواب ورکړو.چه یوڅو پریوتی او دروغژنوخلقو ستا خبره منلی ده.زمونږنه دانه شی کیدي چه ددي رذیلانو ملګرتیا اوکړو.اوستا خبره اومنو.ددي په جواب کښې دالله پیغمبرجواب ورکړو.دازما فرض نه دی چه څوك حق قبلولو دپاره راشی چه زۀ دهغۀ نه دهغۀ د قوم اوپیشې معلومې کړم.په دننه حالاتوباندې خبریدل اوحساب اخستل دالله کاردي. افسوس تاسودومره هم نه پوهیږئ.ستاسوداخواهش پوره کول زماداختیارنه بهردی.چه زۀ ددي مسکینانو نه خپل محفل خالی کړم.زۀ خودالله دطرفه یو خبرورکونکې یم.چه څوك هم زما خبره اومنی هغه زما،اوڅوك چه اونه منی هغه دي خپله پوهه شی که رذیل وی،که مالداروی اوکه غریب وی.څوك چه زما اومنی هغه زمادي اوزۀ دهغۀ یم!

قوله تعالی:- فَاَنْجَيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۱۹﴾

فتح دحق وی شکست د باطل:- ډیرې مودې پورې حضرت نوح علیه السلام په هغوی کښې اوسیدلو.دشپې ورځې، په پټه اوپه ښکاره ئې هغوی ته دالله دلارې دعوت ورکولو.لیکن څومره چه هغه په خپله نیکئ کښې زیات شو.هغوی په خپلې بدئ کښې زیات شول.آخرپه سخت ورته صفائي اووئیل چه که اوس دې مونږته دخپل دین دعوت راکړو.نومونږبه تاپه کانړو اولو اومړبه دې کړو. هغوی هم خپل لاسونه د الله ﷻ په دربارکښې اوچت کړل.دقوم د دروغژن ګنړلوشکایت آسمان طرف ته اوختلو.اود فتح دعائي اوکړله. وې فرمائیل ای الله! زۀ مغلوب اوعاجز یم.زما مدد اوکړه.زما ملګری هم بچ کړي.بس الله ﷻ د هغۀ دعا قبوله کړله.دانسانانو،ځناورو،اود سامان اسباب نه پوره ډکې کشتئ کښې دسوریدلوحکم ئې ورکړو.ددي نه پس دآسمان او زمکې نه طوفان راوختلو.اود مخ د زمکې کافران ئې د جړې نه ختم کړل.یقینا دا واقعه هم عبرتناکه ده.لیکن اکثرخلق یقین نه کوی.په دې کښې هیڅ شك نشته.چه رب ډیرې غلبې والادي.لیکن هغه مهربان هم ډیردي.

كَذَّبَتْ	عَادُ
دروغ اوګنړل	عادیانو
.....عادیانو خپل	

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾	اِذْ	قَالَ	لَهُمْ	اَخُوْهُمْ	هُوْدٌ	اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾	
رسولان	کله چې	اووئیل	هغوئ ته	رور دهغوئ	هود	آیا نۀ یریږئ تاسو	
پیغمبران دروغژن اوګنړل	کله چې دهغوئ رور هود اووئیل					اچې آیا تاسو دالله دعذاب نه نه ویریږئ	

اِنِّيْ لَكُمْ	رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۲۵﴾	فَاتَّقُوا اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۲۶﴾
بیشکه زۀ ستاسو دپاره	رسول امانتدار یم	نو اویریږئ دالله نه	او خبره اومنئ زما
واورئی ازه خوتاسو دپاره امانت دار پیغمبر یم		انو الله نه اویریږئ	او زما تابعداری اوکړئ

Scanned with Ca

وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

اونه غواړم زه ستاسو نه | په دې باند | هيڅ اجر | نه دي اجر زما | مګر | په رب العالمين باندې دي |

اوزه ستاسو نه په دې دعوت څه بدله نه غواړم ازما بدله خو درب العالمين په ذمه ده

اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ۝ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ

آيا تاسو جوړوئ | په هر اوچت ځائي باندې | نښه | عبث بې فائدې | او جوړوئ تاسو | قلاګاني

آيا تاسو په هراوچت ځائي باندې يادګارونه جوړوئ | او دنګي دنګي پخي مانړئ

لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ۝ وَاِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ

شايد چې تاسو به | هميشه اوسئ | اوکله چې | حمله کوئ تاسو | نو حمله کوئ |

ابادوئی | لکه چې هميشه به دلته اوسيږئ | او چې په چا حمله کوئ نو ډيره د ظلم حمله

جَبَّارِيْنَ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ

په جبر يعنی ظلم سره | پس اويريږئ | دالله نه | او خبره اومنئ زما | او اويريږئ | دهغه ذات نه |

پرې کوئ | نو الله ﷻ نه اوويريږئ | او زما تابعداری اوکړئ | اودهغه ذات نه اوويريږئ

اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ۝ اَمَدَّكُمْ

چې امداد ئې کړې دې ستاسو | په هغه څيز | چې تاسو ته معلوم دی | امداد ئې کړې دې ستاسو سره

چاچې ستاسو په هغه څيزونو سره مدد اوکړو | کوم چې تاسوته معلوم دی | يعنی هغه

بِاَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ۝ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

په څاروو سره | او په خامنو سره | او په باغونو او چينو سره | بيشکه زه | يريږم | په تاسو باند |

دڅاروو او اولاد په صورت کښې ستاسو مدد اوکړو | اوپه باغونو اوچينو سره | ماته ستاسو په معامله

عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝

عذاب دورځې لوئې نه |

کښې دلوئې ورځې د عذاب نه ويره ده |

قوله تعالی:- اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝

دهود ﷺ خپل قوم ته وعظ :- دحضرت هود ﷺ قصه بيانيږی چه هغوی عاديان چه داحقاف اوسيدونکی وو. الله ﷻ طرف ته راوبلل. احقاف په ملك يمن کښې دحضرموت خواکښې شګلونوغرونو سره نزدې دي. ددوی زمانه دنوح ﷺ دزمانې نه پس ده. په سورهٔ اعراف کښې هم ددوی ذکر تير شوی دي. چه دوی دقوم نوح جان نشين جوړکړې شو. اودوی ته ډيرزياته فراخی اومالداری ورکړې شوه. په ډير آرام، طاقت اوقوت کښې پوره، مال اواولاد والا، فصلونه، باغونه، ميوې او غلی ډيرې زياتې، دولت او زر هم ډې، نهرونه اوچينې ځائې په ځائې، غرض داچه هرقسمه اسباب اوسهولت ورته حاصل وو. ليکن د رب دتولونعمتونو بې قدری کونکی اوالله تعالی سره شرك کونکی وو. خپل نبی ئې دروغژن اوګنړلو. دې هم دهغوی نه وو. هغوی ئې نښه پوهه کړل، وې يرول دهمکيانې ئې ورکړې. خپل رسول کيدل ئې

ورته ښکاره کړل.دخپل اطاعت اود الله تعالی دعبادت او وحدانیت دعوت ئې ورکړو.لکه څنګه چه نوح علیه السلام ورکړې وو.خپل بې شرم کیدل اود دنیا طالب نه کیدل ئې بیان کړل.دخپل خلوص ذکرئې هم اوکړو.دوی چه به دفخر اوریا په طورخپل مال بربادولو.اوپه اوچتو اوچتو مشهورو غونډو باندې اوچت اوچت علامتونه دخپل قوت اومال ښکاره کولودپاره جوړول. ددې فضول کارنه هغوی لره دهغوی نبی هود علیه السلام منع کړل.ځکه چه په دې کښې فضول دولت خرچ کول،وخت بربادول،اومشقت اوچتول دی.چه ددې نه ددین دنیاهیڅ فائده اومقصدنه وی اونه ددې خیال کیدلې شی.لوئې لوئې پاخه اواوچت برجونه اومیناربه ئې جوړول.چه ددې باره کښې دهغوی نبی نصیحت اوکړو.چه آیاتاسوداګنړئ چه تاسوبه دلته همیشه اوسیږئ.ددنیامحبت ستاسونه آخرت هیرکړې دې.لیکن یادساتئ ستاسودا خواهش بې فائدې دې.دنیاختمیدونکې ده.تاسوپخپله فناکیدونکی یئ.په یو قراءت کښې (کَانَکُمْ خَالِدُوْن) دې.

د ابودالدرداء مسلمانانو نصیحت:-په ابن ابی حاتم کښې دی چه کله مسلمانانوپه غوطه کښې محلونه او باغونه جوړول په لویه پیمانه باندې دضرورت نه زیات شروع کړل.نوحضرت ابودرداء رضی الله عنه په جمات کښې اودریدلو.وې فرمائیل چه د دمشق اوسیدونکو! واورئ! خلق ټول جمع شول.نوهغوی دالله دحمد او ثناء نه پس اوفرمانیل.چه تاسوته شرم نه راځی.تاسو خیال نه کوئ.چه تاسوهغه څه جمع کول شروع کړی دی چه هغه تاسونه خوږئ.تاسوهغه کورونه جوړول شروع کړی دی چه داستاسو داوسیدو په کارنه راځی.تاسوهغه لرې اوچت آرزوګانې شروع کړی دی چه دهغې پوره کیدل ناممکن دی.آیا تاسو هیر کړل؟ ستاسونه مخکښې خلقوهم جمع کول اوسنبهال ساتل.او ډیر لوئې اوچت اوچت پاخه اومضبوط محلونه ئې جوړکړی وو.لوئې لوئې آرزوګانې ئې ترلې وې.لیکن نتیجه ئې داشوه.چه هغوی په دهوکه کښې پاتې شول.دهغوی جمع کړې شوی برباد شول.دهغوی کورونه اوکلی وران شول .عادیانو ته اوګورئ! چه دعدن نه واخله عمان پورې دهغوی اسونه او اوښان وو.لیکن نن هغه چرته دی؟ شته دې څوک داسې بیوقوف چه دقوم عاد میراث د دوه درهموپه بدله کښې هم واخلی.دهغوی دمال او کورونو بیانولوسره ئې دهغوی قوت اوطاقت بیان اوفرمائیلو.چه ډیر سرکش،متکبراوسخت وو.دالله نبی علیه السلام هغوی ته دالله نه د ویریدلو اودخپل اطاعت حکم ورکړو.چه د رب اطاعت اوکړئ.او دهغۀ د رسول اطاعت اوکړئ.بیا ئې هغه نعمتونه وریادکړل.کوم چه الله تعالی په هغوی باندې انعام کړې وو.چه هغه هغوی پخپله هم منل.مثلاً څاروی څناور،اولاد، باغونه او دریابونه،بیائې خپله خطره ښکاره کړله.چه که تاسو زه دروغژن اوګنړلم.اوزما په مخالفت باندې کلک شوئ.نوپه تاسوبه دالله عذاب راشی.لالچ او ویره ئې ورته دواړه اوښودل.لیکن هیڅ فائده ئې اونکړله.

قَالُوْا	سَوَآءٌ	عَلَيْنَآ	اَوَعَظْتَ	
اووئیل هغوئ	برابره خبره ده	په مونږ باندې	که نصیحت کوې ته	
هغوئ جواب ورکړو چې مونږ دپاره برابر ده			که ته راته	
اَمْ لَمْ تَكُنْ	مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ۙ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا	خُلُقُ	الْاَوَّلِيْنَ ۙ
یانۀ کیږې ته	دنصیحت کونکونه	نۀ دی دا خبری	مګر	عادتونه دی	دمخکښو خلقو
نصیحت اوکړې اونه کړې	دا خو بس د پخوانو خلقو عادتونه دی				اومونږ
وَمَا نَحْنُ	بِمُعَذَّبِيْنَ ۚ	فَكَذَّبُوْهُ	فَاَهْلَكْنٰهُمْ ؕ		
اونۀ یو مونږه	چې عذاب به راکړې شی	نو دروغ اوګنړو	هغوئ هغه	نو هلاک کړل	مونږه هغوئ
ته هیڅرې عذاب نشی راکولې	انو هغوئ پیغمبر دروغ اوګنړلو			انومونږ	هغوئ هلاک کړل

Scanned with Ca

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ	لَاٰیَةً ؕ	وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ	مُّؤْمِنِیْنَ ۝	وَاِنَّ رَبَّكَ
بیشکه په دې کښې	خامخا یوه نښه ده	اونه دی اکثر ددوئ	منونکی	او بیشکه رب ستا
بیشکه په دې کښې د	عبرت نښه ده	او په دوئ کښې زیات خلق	ایمان نه راوړی	او
لَهُوَ	الْعَزِیْزُ	الرَّحِیْمُ ۝		
خامخا هغه	غالب دې	او رحم کونکې دې		
بیشکه ستا رب هغه ذات دې	چې غالب او مهربان دې			

قوله تعالی:- قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَیْنَا

نصیحت یئ حاصل نه کړو اوتباه شول:- دحضرت هود علیه السلام داثرنه ډکوبیانونو او دهغوی د رغبت او ویرې نه ډکوخطباتوپه قوم باندې هیڅ اثراونه کړو.اوهغوی صفا اووئیل چه ته مونږته وعظ کوې اوکه نه کوې،نصیحت کوې اوکه نه کوې مونږخوخپل عادتونه نه شو پریښودې.مونږستا خبره اومنو،دخپلو معبودانو نه بیزاره شو.دا یقیناً ناممکن دی.زمونږدایمان نه ته مایوسه شه مونږستا نه منو. په حقیقت کښې دکافرانوهم داحال دې.ددوی پوهه کول بې فائدې دی.الله تعالی خپل نبی آخرالزمان صلی الله علیه وسلم ته هم دا اوفرمائیل چه پدې ازلی کافرانوباندې ستانصیحت بالکل اثرنه کوی.ددې نصحیت کولواوپوهه کولو نه پس به هم دوی دغه شان وی.لکه څنګه چه مخکښې وو.دوی قدرتی طورباندې دایمان نه محروم کړې شوی دی.چه په دوی باندې ستاد رب خبره رښتیا کیدونکې ده.دوی ته به ایمان نه نصیب کیږی.

دهرې زمانې کافرانو هم یو شان عادت وو:- د ﴿خُلُقُ الْاَوَّلِیْنَ﴾ دویم قراءت ((خَلْقُ الْاَوَّلِیْنَ)) هم دې.یعنی کومې خبرې چه ته مونږته کوې دا خو مخکښې خلقوکړې دی.لکه څنګه چه قریشونبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وئیلی وو. چه د مخکښې خلقوقصې دی.چه دا سحرمابنام تاته وئیلې شی.دا یوبهتان دې.چه تا دخانه جوړکړې دې.اوڅه خلق دې دخان طرفدارکړی دی وغیره،دمشهور قراءت په لحاظ سره معنی دا شوه. چه په څه باندې مونږیو،هم دا زمونږ د پخوانو پلار نیکونومذهب دې.مونږ خوبه دهغوی په لاره خو. دا هم غلط دی چه مونږته به عذاب راکولې شی.آخرداچه دهغوی د تکذیب اومخالف په وجه هغوی هلاک کړې شول.سخته تیزه سیلئ په هغوی باندې راولیږلې شوه.اوبرباد کړې شول.هم دا عاد اولی وو. چه دوی ته ارم ذات العماد وئیلې شوی دی .دا ارم دسام بن نوح دنسل نه وو.په عمدکښې دوی اوسیدل.ارم دحضرت نوح علیه السلام د نوسی نوم دې.دیو ښارنوم نه دې.اګرچه دبعضې خلقونه داهم نقل دی.لیکن ددې قائل بنی اسرائیل دی.دهغوی نه اوریدلوسره نوروخلقوهم دغه ویناکړې ده.په حقیقت کښې ددې څه مضبوط دلیل نشته.په دې وجه قرآن د ارم ذکرکولوکښې فرمائیلی دی.چه ﴿لَمْ یُخْلَقْ مِثْلُهَا فِی الْبِلَادِ﴾ ددوی په شان نورڅوك په ښارونوکښې نه دی پیداکړې شوی.که ددې نه مراد ارم ښاروو.نو داسې به ئې فرمائیلی وو.چه ددې په شان بل یوښارنه دې جوړکړې شوې.د قرآن کریم په آیت کښې دی.﴿ فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِی الْاَرْضِ ﴾ عادیانوپه زمکه باندې تکبر اوکړو.او نعره ئې اولګوله.چه زمونږ نه زیات قوت والاڅوك شته؟آیا دوی داهم هیرکړل.چه ددوی پیداکونکی ددوی نه هم زیات قوت والادې؟ په اصل کښې دوی زمونږدآیاتونونه انکار کولو.دامونږمخکښې بیان کړی دی.چه په دوی باندې صرف دغوئی د سپیرمې دسوړی برابرهوا پریښودې شوه.چه دهغوی ښارونه اوکورونه ئې دجړې نه ختم کړل.چه په کوم خانې تیره شوه هرڅه ئې صفاکړل.شنګارکولوسره ئې ټول ځیزونه تباه کړل.دټول قوم سرونه جدا او تنه جدا کړې شوی وو.چه دالله عذاب ئې دهواپه شکل کښې راتلونکې اولیدلو.نوپه قلعه ګانو،محلونو اومحفوظ خایونوکښې پټ شوی وو.په زمکه کښې ئې کندې اوکنستلې،نیم نیم بدنونه ئې په هغې

Scanned with Ca

کښې ښکته کړل اومحفوظ شول.خود الله عذاب څه څیز منع کولې شی؟ دا یومنټ دپاره هم څه مهلت او انتظارنه کوی.ټول ئې هلاك کړل.اودا واقعه د روستو راتلونکوخلقودپاره یوه د عبرت نخښه جوړه کړې شوه.په دوی کښې اکثرخلق بیاهم بې ایمانه پاتې شول

كَذَّبَتْ	ثَمُودُ	الْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾	
دروغ اوګنړل	ثمودیانو	رسولان	
(دغه شان) ثمودیانو پیغمبران دروغ اوګنړل			
إِذْ قَالَ	لَهُمْ	أَخُوهُمْ	صَالِحٌ
کله چې اووئیل	هغوئ ته	رور دهغوئ	صالح
څه وخت چې ددوئ رور صالح علیه السلام دوئ ته اووئیل			
رَسُولٌ	أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾	فَاتَّقُوا اللَّهَ	وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾
رسول یم	امانتدار	پس اویریږئ دالله نه	او اطاعت اوکړئ زما
یو امانتدار پیغمبر یم			
عَلَيْهِ	مِنْ أَجْرٍ	إِنْ أَجْرِيَ	إِلَّا
په دې کار باندې	څه بدله	نه ده بدله زما	مګر
دې څه اجر نه غواړم			
فِيمَا	هَاهُنَا	آمِنِينَ ﴿١٤٦﴾	فِي جَنَّاتٍ
په هغه څیزونو کښې	چې دلته په دنیا کښې دی	په داطمینان سره	په دې باغونو
دنیا کښې دی			
وَزُرُوعٍ	وَنَخْلٍ	طَلْعُهَا	هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾
اوپه دې فصلونو	اوکجورو کښې	چې غونچکونه دهغې	پستې پخې ډکې دی
او په فصلونو او کهجورو کښې			
مِنَ الْجِبَالِ	بُيُوتًا	فَارِهِينَ ﴿١٤٩﴾	فَاتَّقُوا اللَّهَ
دغرونو نه	کورونه	غرور کونکی	نو اویریږئ دالله نه
تراشئ			
أَمْرَ	الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾	الَّذِينَ	يُفْسِدُونَ
حکم	داسراف کونکو خلقو	هغه (مسرفان)	چې فساد کوی
اوکړئ			
يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾			
داصلاح			

قوله تعالی:- اِذْقَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ

دحضرت صالح علیه السلام قوم ته خطاب:- دالله تعالی دبنده اورسول صالح علیه السلام واقعه بیانیږی.چه هغه خپل قوم ثمودطرف ته رسول جوړشوی اولیږلې شو.داخلق عرب وو.په حجر نومې ښارکښې اوسیدل.دا د وادی القری اوملك شام په مینځ کښې دې.دادعادیانونه پس اودابراهیمیانونه مخکښې وو.شام طرف ته تللوسره ددوی ددې په دې ځائې باندې د تیریدلوبیان د سورۂ اعراف په تفسیرکښې مخکښې تیرشوې دې.دوی لره ددوی نبی الله طرف ته راوبلل.چه دوی دالله توحید اومنی.اود حضرت صالح علیه السلام د رسالت اقرار اوکړی.لیکن دوی هم انکاراوکړو.اوپه خپل کُفرباندې کلك پاتی شول.دالله تعالی پیغمبرته ئې دروغژن اووئیل.سره ددې چه دالله تعالی نه دویریدلونصیحت ئې اوریدلو،خو پرهیزګاری ئې اختیارنه کړله.د رسول امین د موجودګئ باوجود ئې دهدایت لاره اختیارنه کړله.حالانکه دنبی صفا اعلان وو. چه زۂ خپل څه بوج په تاسوباندې نه اچوم.زۂ خوددې رسالت دتبلیغ اجرصرف دالله تعالی نه غواړم. ددې نه پس ئې دالله تعالی نعمتونه هغوی ته وریادکړل.

قوله تعالی:- اَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ۙ

د دنیا ناپائیداری:- صالح علیه السلام خپل قوم ته وعظ کوی.هغوی ته دالله تعالی نعمتونه وریادوی .او د هغۂ د عذاب نه ئې خبروی.چه هغه تاسوته فراخه روزی درکوی.هغۂ ستاسودپاره باغونه،چینې، فصلونه، اومیوې پیداکړی دی.په امن اوسکون سره ستاسود ژوند ورځې پوره کوی.تاسو دهغۂ په نافرمانۍ کولو سره هم پدې نعمتونوکښې اوپدې امن وامان کښې نه شئ پاتې کیدلې.پدې باغونواوپه دې دریابونو کښې،په دې فصلونو اوپه دې باغونوکښې چه ددې غونچې د زیاتوالی په وجه درنې وی.او لاندې رازورندې وی.چه په دې کښې قط په قط تازه کهجورې ډیرې ښائسته ښکاری.چه د نرمو ښائسته خوږو اوخوندورونه ډکې دی.تاسو دالله علیه السلام په نافرمانۍ کولوسره دې لره په آرام سره نه شئ بچ کولې.الله ﷻ چه تاسو داوخت په دې مضبوطو، ښائسته اوچتو اوقیمتی کورونوکښې ساتلی یئ. دالله د توحید اوزمادرسالت د انکارنه پس داهم په خپل ځائې نه شی پاتې کیدې.افسوس چه تاسو دالله دنعمت قدر نه کوئ.خپل وخت، خپلې روپئ بې ځایه بربادوئ.دانقش ونګار والا کورونه په غرونو کښې په ډیر تکلیف اومشقت سره،صرف د ریاکارئ او لویئ دپاره،دخپل عظمت اوقوت خودلودپاره جوړوئ.چه په دې کښې هیڅ نفع نشته.بلکه ددې وبال ستاسوپه سرونو باندې راځی.پس تاسوله دالله ﷻ نه ویریدل پکاردی.اوزماتباع اوکړئ.دخپل خالق،رازق،انعام کونکی،احسان کونکی عبادت اودهغۂ فرمان برداری اودهغۂ توحید طرف ته پوره متوجه شئ.چه ددې نفع به تاسوته په دنیااو آخرت کښې ملاوشی. تاسوله ددې شکراداکول پکاردی.دهغۂ تسبیح او تهلیل کوئ. سحراومابنام دهغۂ عبادت کوئ.تاسوله دخپل دې موجوده سردارانو بالکل منل نه دی پکار.دوی خودالله دحدونونه تیرشوی دی.دتوحید اتباع ئې هیره کړې ده.په زمکه کښې فساد خوروی.په نافرمانۍ،ګناه اوفسق وفجورکښې په خپله هم لګیادی اونورخلق هم دې طرف ته رابلی.دحق موافقت او اتباع کوی داصلاح کوشش نه کوی.

قَالُوْٓا	اِنَّمَآ اَنْتَ	مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۙ	مَآ اَنْتَ	اِلَّا
	اوونیل ثمودیانو	بیشکه چې ته	دجادو کړې شوۂ نه ئې	نۂ ئې ته	مګر
هغوئ ورته اووئیل چې په تا خو چرته غټ جادو شوې دې	ته خو زمونږ په شان یو
بَشَرٌ	مِّثْلُنَا	فَاْتِ	بِاٰيَةٍ	اِنْ كُنْتَ	مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝
یو انسان ئې	پشان زمونږه	پس راوړه	یوه نښه	که ئې ته	دصادقانونه
انسان ئې	نو څه معجزه راوړه	که ته (په دې دعوی کښې) ریښتونې یئ	(صالح علیه السلام)

Scanned with Ca

قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ
اوونیل صالح | داوښه ده | دې لره | اوبه څکل دی | او ستاسو دپاره | اوبه څکل دی | دورځې |
اوفرمائیل چې دایوه اوښه ده اچې یوه ورځ داوبوڅښلو وار د دې دې | اودیوې تاکلې ورځې یووار

مَّعْلُوْمٍ ۝ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ
معلومې | اومۀ رسوئ دې ته | څه ضرر | پس اوبه نیسی تاسو لره | عذاب | د ورځې |
ستاسو دپاره مقرر دې | اودې اوښې ته تکلیف مه رسوئ | ګنې په تاسو به د یوې لوئې ورځې عذاب راشی

عَظِيْمٍ ۝ فَعَقَرُوْهَا فَاَصْبَحُوْا نٰدِمِيْنَ ۝ فَاَخَذَهُمُ
لوئې | پس هغوئ دهغې خپې پریکړې | پس شول هغوئ | شرمنده | نو اونیول هغوئ |
خوهغوئ داوښې پښې پرې کړې | نو بیا په خپلو کړو پښیمانه شول | بیا باندې عذاب

الْعَذَابُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝
عذاب | بیشکه په دې کښې | نښه ده | اونۀ دی اکثر ددوئ | منونکی |
راغله | یقیناً په دې واقعه کښې د عبرت نښۀ ده | اوپه دوئ کښې زیات خلق ایمان نه راوړی

وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝
او بیشکه رب ستا | خامخا هغه | زبردست دې | رحم کونکې دې |
اوبیشکه چې ستا رب زبردست او مهربان دې |

قوله تعالی:- قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۝

د صالح علیه السلام معجزه او د قوم ضد: ثمودیانوخپل نبی ته جواب ورکړوچه په تاخو چا جادوکړې دې.اګرچه یوه معنی داهم شوې ده چه ته دمخلوق نه یې.اوددې په دلیل کښې دعربئ یوشعرهم پیش کولې شی.لیکن زیاته واضحه معنی رومبئ ده.دې سره هغوی اووئیل.ته خو زمونږ په شان یوانسان یې.ناممکن ده چه په مونږکښې خوپه چا باندې وحی رانه شی.اوپه تا راشی.نورهیڅ نشته دا صرف بناوټ دې.یوښکاره چل دې جوړکړې دې.خالص دروغ اوصفا طوفان دې.ښه مونږ وایوکچرې ته واقعی رښتونې نبی یې. نو څه معجزه اوښایه.دغه وخت دهغوی ټول لوئې واړه جمع وو.اوټولوپه یوځائې معجزه اوغوښتله.پیغمبر ټپوس اوکړو.چه تاسوڅه معجزه لیدل غواړئ؟ هغوی اووئیل.چه دا مخامخ لوئې ګټ دې.داد زمونږپه مخکښې اوچوی.اوددې نه دې یوه بلاربه اوښه ددې رنګ داسې داسې راوخی.نبی علیه السلام اوفرمائیل.ښه که زۀ د رب نه دعا اوکړم اوهغه هم دا معجزه زماپه لاسونو تاسوته اوښائی.بیاخوبه تاسوته زماد نبوت په منلوکښې څه عذرنه وی؟ ټولو مضبوطه وعده اوکړله.قول او اقرارئې اوکړو.چه مونږبه ټول ایمان راوړو.اوستا نبوت به منو.تاسو ډیر زردامعجزه اوښایئ.هغوی هغه وخت مونځ شروع کړو.بیائې دالله ﷻ نه دعا اوکړله.هغه وخت ګټ اوچودۀ،اوهغه شان هغه اوښه دهغوی په مخکښې دهغې نه راووتله.څه خلق خود اقرارمطابق مؤمنان شول.لیکن اکثر خلق بیاهم کافران پاتې شول.

نبی صالح علیه السلام اوفرمائیل.اوس واورئ! یوه ورځ به دا اوبه څکی او یوه ورځ به د اوبوڅکلو نمبر ستاسو مقرر وی.اوس به په تاسوکښې څوک هم دې ته تکلیف نه رسوی.ګنې سخت عذاب به په تاسو راشی. یوې مودې پورې خوهغوی منع شول.اوښه په هغوی کښې اوسیدله. څرن به ئې کولو.اود خپل نمبرپه

Scanned with Ca

ورځ به ئې اوبه څکلې.په دغه ورځ به هغوی دهغې په پیو ښهٔ ځانونه مړول.لیکن څه موده پس دهغوی بدبختئ هغوی راګیرکړل.په هغوی کښې یو لوئې ملعون د اوښې د وژلو اراده اوکړله.اوتول ښاروالا دهغهٔ په طرف شول.پس دهغې خپې ئې پریکړلې اومړه ئې کړله.چه ددې په نتیجه کښې هغوی سخت پښیمانه او ملامته شول.د الله عذاب هغوی ناڅاپه راګیرکړل.په هغوی زمکې اوخوزولې شوې.اویوې چغې سره ټول په ټوله هلاك کړې شول.زړونه ئې والوتل.اینې ئې تکړې تکړې شوې.او دځه څیزچه وهم اوګمان هم نه وو.هغه راغې.اول اوآخر ټول هلاك شول.اودټولې دنیا دپاره دا ویرونکې واقعه عبرت اوګرځیدله.دومره لویه نخښه ئې په خپلو سترګو اولیدله.خوبیاهم په هغوی کښې اکثروخلقوته ایمان نصیب نه شو.په دې کښې هیڅ شك نشته.چه الله غالب دې اوهغه مهربان دې.

كَذَّبَتْ	قَوْمُ لُوْطِ						
ادروغژن اوګنړل | قوم دلوط							
| دلوط علیه السلام قوم هم خپل پیغمبران دروغژن اوګنړل							
الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٦٠﴾	اِذْ قَالَ	لَهُمْ	اَخُوْهُمْ	لُوْطٌ	اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٦١﴾		
رسولان | کله چې اووئیل | هغوئ ته | رور دهغوئ | لوط علیه السلام | آیا تاسو یریږئ نهٔ |							
کله چې ددوئ رور لوط علیه السلام اووئیل |چې آیا تاسو (دالله ﷻ) نه نه یریږئ							
اِنِّيْ	لَكُمْ	رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٦٢﴾		فَاتَّقُوا اللّٰهَ		وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٦٣﴾	
بیشکه زهٔ | ستاسو دپاره | رسول امانتدار یم | پس اویریږئ دالله نه | او خبره اومنئ زما |							
زه ستاسو په حقله یو امانت دار پیغمبر یم |نوتاسو دالله نه اویریږئ |اوزما تابعداری اوکړئ							
وَمَآ اَسْئَلُكُمْ	عَلَيْهِ	مِنْ اَجْرٍ	اِنْ اَجْرِيَ	اِلَّا	عَلٰى رَبِّ		
اونهٔ غواړم زهٔ ستاسو نه | په دې باندې | اجر | نهٔ دې اجر زما | مګر | په رب							
اوزهٔ ستاسو نه په دې (تبلیغ) څه بدله نه غواړم | زما بدله خو درب العالمین په ذمه ده							
الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٤﴾							
العالمین باندې |							

قوله تعالی:- كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٦٠﴾

د لوط علیه السلام قوم هم دخپل نبی نافرمان وو:- الله تعالی دخپل بنده او رسول حضرت لوط علیه السلام قصه بیانوی. د دوی نوم لوط بن هاران بن آزرو.دا دابراهیم خلیل الله وُرارهٔ وو.دوی لره الله تعالی دحضرت ابراهیم علیه السلام په ژوند کښې ډیر لوئې اُمت طرف ته لیږلی وو.داخلق سدوم اوددې خواؤشا اوسیدل.آخرکار دوی هم دالله تعالی په عذابونوکښې راګیرشول.ټول هلاك شول.او ددوی دکلی په ځائې یو ډنډ (تالاب) دسخا ګنده او ترخو اوبو پاتې شو.دا تراوسه پورې د غورپه ښارونوکښې مشهوردې.چه د بیتُ المقدس اوکرك اوشوبك په مینځ کښې دې.دې خلقوهم د رسول الله ﷺ تکذیب اوکړو. نبی علیه السلام هغوی ته دالله تعالی دنافرمانئ پرینبودلو اودخپلې تابعدارئ کولوهدایت اوکړو. خپل رسول کیدل ئې ورته ښکاره کړل.هغوی ئې دالله تعالی دعذابونونه اویرول.دالله تعالی د خبرومنلو ئې ورته اوفرمائیل. اعلان ئې اوکړو چه زهٔ ستاسو پیسوټکوته محتاج نه یم.زه صرف دالله تعالی دپاره ستاسو خیرخواهی کوم. تاسو

Scanned with Ca

د خپل ناکاره کارنه منع شئ. یعنی دښځونه بغیر سړونه خپل حاجت پوره کولونه منع شئ. لیکن هغوی دالله د رسول اونه منله. بلکه تکلیفونه ئې ورته اورسول.

اَتَاْتُوْنَ	الذُّكْرَانَ	مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۵﴾	وَتَذَرُوْنَ	مَا
ایا ورځئ تاسو	نارینوته	دخلقو نه	او پریږدئ	هغه
آیا په ټوله دنیا کښې صرف تاسو (داسې خلق یئ)				
خَلَقَ	لَكُمْ	رَبُّكُمْ	مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ؕ	بَلْ اَنْتُمْ	قَوْمٌ
چې پیدا کړی دی	تاسو لره	رب ستاسو	دښځو ستاسو نه	بلکه یئ تاسو	قوم
رب چې ستاسو دپاره کومې ښځې پیدا کړې دی				هغه تاسو پریږدئ	تاسو خودحد نه تیر شوی خلق ئې
عٰدُوْنَ ﴿۱۶۶﴾	قَالُوْا	لَئِنْ	لَّمْ تَنْتَهِ	يٰلُوْطُ	لَتَكُوْنَنَّ
دحدنه اوړیدونکی	اووئیل هغوئ	که چرې	منع نه شوې ته	اے لوط	نوخامخا شې به ته
هغوئ ورته اووئیل چې ائې لوط علیه السلام! که ته دخپلو خبرونه منع نه شوې					انو ته به
مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ﴿۱۶۷﴾	قَالَ	اِنِّيْ	لِعَمَلِكُمْ	مِّنَ الْقَالِيْنَ ؕ ﴿۱۶۸﴾
دایستلو شوؤنه	اووئیل هغه	بیشکه زهٔ	دې بدعمل ستاسو لره	دسخت بغض لرونکونه یم
دوطن نه بهر اوویستلې شې	(لوط علیه السلام) اووئیل چې بیشکه زه ستاسو دعملونو نه نفرت کوم			
رَبِّ	نَجِّنِيْ	وَاَهْلِيْ	مِمَّا	يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۹﴾
اے ربه زما	نجات راکړه مالره	او اهل زما لره	دهغې (بدعملئ) نه	چې دوئ ئې کوی
ائې زما ربه! ما او زما خاندان ددې خلقو د عملونو (دوبال) نه اوساتې				
فَنَجَّيْنٰهُ	وَاَهْلَهٗۤ	اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۷۰﴾	اِلَّا	عَجُوْزًا
پس نجات ورکړو مونږ هغه له	او اهل دهغه له	ټولو له	مګر	بوډئ ښځه
نو مونږ دې اوددهٔ ټول خاندان بچ کړو	خو بس یو بوډئ چې روستو پاتې کیدونکو			
فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۷۱﴾	ثُمَّ دَمَّرْنَا	الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۷۲﴾	وَاَمْطَرْنَا
په روستو پاتې کیدونکو کښې ده	بیا هلاک کړل مونږه	هغه نور	او راووروړ مونږه
کښې پاتې شوه	بیا مونږ ټول تباه کړه	.....او په هغوئ مو یو خاص	
عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ	فَسَآءَ	مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۳﴾	اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً ؕ
په هغوئ باندې باران	پس بدوؤ	باران دیرولو شوؤ	بیشکه په دې کښې	خامخا نښه ده
باران اوورولو اځومره خراب باران وو	په هغه خلقو چې دعذاب نه ویرولې شوی وو		بیشکه په دې واقعه	
وَمَا كَانَ	اَكْثَرُهُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۴﴾	وَاِنَّ رَبَّكَ	لَهُوَ	الْعَزِيْزُ
اونه دی	اکثر ددوئ	منونکی	او بیشکه رب ستا	خامخا هغه	غالب دې
کښې عبرت دې	او په دوئ کښې زیات خلق ایمان نه راوړی		اوبیشکه چې ستا رب غالب مهربان دې	

الرَّحِيْمُ ﴿۱۷۵﴾ كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۶﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ
مهربانه دي ادروغ اوګنړل ايکه والو رسولان کله چې اوونيل هغوئ ته
دبنړ خاوندانو خپل پيغمبران دروغژن اوګنړل اخه وخت چې شعيب ﷺ دوئ ته اووئيل
شُعَيْبٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۷۸﴾
شعيب عليه السلام ايا نه يريږئ تاسو بيشکه زهٔ ستاسو دپاره رسول يم امانتدار
ايا تاسو دالله ﷻ نه نه ويريږئ ازهٔ ستاسو دپاره يو امانتدار پيغمبر يم
فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۷۹﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ
پس اويريږئ دالله نه او خبره اومنئ زما اونهٔ غواړم زهٔ ستاسو نه په دې باندې خه اجر
نو تاسو دالله ﷻ نه اوويريږئ اوزما خبره اومنئ او زهٔ تاسونه په دې کار هيڅ بدله نه غواړم
اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۰﴾
نهٔ دي اجر زما مګر په رب العالمين باند دي
زمابدله خوبس صرف الله ﷻ سره ده

قوله تعالى:- اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۵﴾

دلوط ﷺ دقوم ناکاره خصلت لواطت:- لوط ﷺ خپل قوم ددې خاص بدکارئ نه منع کړل چه تاسو سړوته شهوت سره مه راځئ. البته دخپلو حلال ښځونه خواهش پوره کوئ. کومې چه الله ﷻ ستاسو دپاره ښځې جوړې کړې دي. درب د مقررشوو حدونو ادب اواحترام کوئ. ددې جواب هغوی سره هم داوو. چه اې لوط! که منع نه شوې نومونږ به تا جلاوطن کړو (د وطن نه به دې اوباسو) هغوی په خپل مينځ کښې مشوره اوکړله. چه داپاک بازخلق خو جداکړئ. په دې کتلوسره لوط ﷺ دهغوی نه دبې زارئ اوجدا کيدو اعلان اوکړو. اووې فرمائيل. چه زهٔ ستاسو ددې بدکار نه ناراض يم. زهٔ دا نه خوښوم. زهٔ الله تعالى ته براءت (بيزاری) ښکاره کوم. بيانې دالله تعالى نه هغوی دپاره خيرې اوکړې. او دځان او خپل کوروالو نجات ئې اوغوښتلو. الله تعالى قبولته نجات ورکړو. خودهغهٔ ښځې دخپل قوم ملګرتيا اوکړله. اوهم دهغوی سره تباه شوه. لکه چه په سورهٔ اعراف او سورهٔ حجرکښې په تفصيل سره بيان تيرشوې دي. لوط ﷺ منونکی خلق خان سره روان کړل. اود الله تعالى دفرمان مطابق ددې کلی نه اووتلو. دالله حکم وو چه ستاسوپه وتلوبه په هغوی باندې عذاب راځی. دغه وخت په شا دوی طرف ته ګورئ هم مه. بياپه هغوی قبولوباندې عذاب راغې. اوقبول برباد شول. په هغوی باندې دآسمان نه دکانړو باران اوشو. او د هغوی انجام بدشو. داهم عبرتناکه واقعه ده. په هغوی کښې هم اکثريې ايمانه وو. د رب په غلبه کښې او د هغهٔ په رحم کښې هيڅ شک نشته.

قوله تعالى:- كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۶﴾

د شعيب ﷺ خپل قوم ته وعظ:- داخلق دمدين اوسيدونکی ووحضرت شعيب ﷺ هم ددوی نه وو. دوی ته د هغوی رور صرف په دې وجه اونه وئيلې شو. چه په دې آيت کښې ددې خلقونسبت ايکه طرف ته شوې دې. چه دهغې به دې خلقوعبادت کولو. ايکه يوه ونه وه. هم داوجه ده چه لکه څنګه ئې نورو نبيانو ته د هغوی دامتونو رورواوفرمائيل. دوی ته دهغوی رور اونه وئيلې شو. ګنې داخلق هم ددوی دقوم وو. بعضې خلق چه هغوی په دې نکته پوهه نه شو. هغوی وائی چه داخلق ددوی دقوم نه وو. په دې وجه شعيب ﷺ ته دهغوی رورواونه وئيلې شو. داجدا قوم وو. حضرت شعيب ﷺ خپل قوم طرف ته هم ليږلې شوې وو. او

Scanned with Ca

دې خلقوطرف ته هم.بعضې وائی چه یودریم امت طرف ته هم ددوی بعثت شوې وو.حالانکه دحضرت عکرمه نه نقل دی چه هیڅ یونبی لره الله تعالی دوه ځل نه دې لیږلې.سوا دحضرت شعیب نه،چه یو ځل دوی مدین والو طرف ته اولیږلی شول.او ددوی د تکذیب په وجه دوی یو بځری سره هلاك کړې شول.او دوباره دوی لره ایکه طرف ته اولیږلی شو.او ددوی دتکذیب په وجه دوی باندې د سوری والا ورځې عذاب راغې.اوهغوی برباد شول.لیکن دا یاد ساتل پکاردی چه ددې په راویانو کښې اسحاق بن بشرکاهلی دې.چه ضعیف دې.دقتاده قول دې.چه اصحاب رس اواصحاب ایکه د شعیب قوم دې.اویو بزرګ فرمائی چه اصحاب ایکه او مدین یودی(۱).والله اعلم.

په ابن عساکرکښې دی چه رسول الله فرمائی چه قوم مدین اواصحاب ایکه دوه قومونه دی اودې دواړوامتونوطرف ته الله خپل نبی حضرت شعیب لیږلې وو.لیکن داحدیث غریب دې اود دې په مرفوع کیدوکښې کلام دې.ډیره ممکن ده چه دا موقوف وی.صحیح خبره داده چه دا دواړه یوامت دي.دواړه ځایونوکښې ددوی صفت جدا جدا بیان شوې دې.ډله یوه ده.ددې یوغټ دلیل داهم دې. چه په دواړوقصوکښې د شعیب وعظ یودې.دواړوته ئې دناپ تول صحیح کولوحکم ورکړې دې.

				اَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا
				پوره ورکوئ | پیمانه | اومهٔ کیږئ تاسو
				تاسو پیمانه پوره پوره ورکوئی | اوخلقو ته
مِنَ الْمُخْسِرِيْنَ ۝	وَزِنُوْا	بِالْقِسْطَاسِ	الْمُسْتَقِيْمِ ۝	وَلَا تَبْخَسُوا
دنقصان	ورکونکونه |	اوتول کوئ |	په تله	| نیغه باندې | اومهٔ ورکوئ کم |
نقصان مه	ورکوئی |	او په سمه	تله باندې تول کوئی |	او خلقو ته دهغوئ
النَّاسَ	اَشْيَآءَهُمْ	وَلَا تَعْثَوْا	فِي الْاَرْضِ	مُفْسِدِيْنَ ۝ وَاتَّقُوا
خلقو ته |	څیزونه دهغوئ |	او مهٔ ګرځئ تاسو |	په زمکه کښې |	فساد کونکی | اواویرپرئ |
په څیزونو	کښې تاوانونه مه	ورکوئی |	او په زمکه کښې	فسادونه مه خوروئی | او دهغه
الَّذِيْ	خَلَقَكُمْ	وَالْجِبِلَّةَ	الْاَوَّلِيْنَ ۝	
دهغه ذات نه |	چې پیدا ئې کړئ تاسو |	او خلق	| رومبنئ |	
ذات نه اوویرپرئی |	چې تاسو او ستاسونه وړاندې مخلوقات ئې پیدا کړی دی |			

قوله تعالی:- اَوْفُوا الْكَيْلَ

په ناپ تول کښې دکمی ممانعت:-شعیب خپل قوم ته دناپ تول صحیح کولوهدایت کوی.دهوکه کولواوپه ناپ تول کښې دکمی کولونه ئې منع کوی.فرمائی چه کله چاته څه څیز ناپ کوئ. نو پیمانه ډکه ورکوئ.دهغهٔ دحق نه مه کموئ.دغه شان کله چه دبل نه اخلئ نودزیات اخستلو کوشش او تدبیر مه کوئ.داولې چه داخستلوپه وخت پوره اخلئ اود ورکولوپه وخت کم ورکوئ؟اخستل ورکول دواړه صفا اوپوره ساتئ، تله ښه ساتئ،چه په دې کښې تول صحیح راځی. ناپ هم پوره ساتئ،په تول کښې عدل(انصاف)کوئ.دهوکه مه کوئ.کم مه تلئ،چاته دهغهٔ څیزکم مه ورکوئ.دچا لاره مه وهئ.غلا ګلتی،لوټ مار،فساد کول.لاړې شوکولو نه ځان ساتئ.خلق ویرولو او دهمکیانې ورکولو سره دهغوی نه مال مه لوټ کوئ.دهغې الله دعذابونونه اویرپرئ چه هغهٔ تاسو اوتول مخکښې خلق پیدا کړی دی.

---

۱) الطبری : ۱۹/ ۳۹۰.

چه هغه ستاسو او ستاسو دمشرانو رب دي.هم دا لفظ په آيت ﴿وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ؕ﴾ کښې هم په دې معنی کښې دي.

قَالُوْٓا اِنَّمَآ
| اووئيل هغوئ | بيشکه |
| هغوئ ورته |

اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۙ﴿۱۸۵﴾ وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا
چې ته | دسحر کړې شوو نه نې | اونه ئې ته | مګر | انسان ئې | په شان زمونږه |
اووئيل چې په تاخو جوړې چا جادو کړې دي |او ته خو بس زمونږ په شان انسان يئ

وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۚ﴿۱۸۶﴾ فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا
او بيشکه مونږ ګمان کوؤ په تاباندې | ددروغژنانونه | پس رااوغورزوه | په مونږ باندې |
اوزمونږ داخيال دي چې ته درغژن يئ |نو که ته ريښتونې يئ |نو په مونږ باندې د

كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ؕ﴿۱۸۷﴾ قَالَ رَبِّيْٓ
يو ټوټه | داسمان نه | که ئې ته | دربښتينو خلقو نه | اووئيل هغه | چې رب زما |
اسمان نه يوه ټوټه راوغورزوه | شعيب عليه السلام اووئيل چې زما رب ته ستاسو عملونه

اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ
ښه پوهيږي |په هغه څه | چې تاسو ئې کوئ | پس هغوئ دروغ اوګڼړو هغه لره | نو اونيول هغوئ لره
ښه معلوم دي | خوهغوئ شعيب عليه السلام دروغژن اوګڼړلو | نو د سيوري د ورځې

عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۸۹﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ
عذاب | دورځې | دسورى | بيشکه چې دا ووُ | عذاب | دورځې لوئې | بيشکه په دې کښې
عذاب پرې راغلو| بيشکه چې دغه د عذاب ډيره سخته ورځ وه| بيشکه په دې واقعه کښې

لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ
خامخا نښه ده | اونه ووُ | اکثر دهغوئ | منونکی | او بيشکه | رب ستا | خامخا هغه
هم (خلقو دپاره) نښه ده | مګر په دوئ کښې زيات خلق ايمان نه راوړي | او بيشکه هم

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۹۱﴾
غالب دي | رحيم دي |
ستا رب غالب او مهربان دي |

قوله تعالى:- قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۙ﴿۱۸۵﴾

دشعيب عليه السلام قوم هم دثموديانو پشان جواب خپل نبی ته ورکړی:- ثموديانوچه کوم جواب خپل نبی ته ورکړې وو.هم هغه جواب دي خلقو هم خپل رسول ته ورکړو.چه په تا باندې چا جادوکړې دي.ستا عقل په خانې نه دي.ته خوزمونږپه شان انسان يې.اوزمونږ خويقين دي چه ته دروغژن سړې يې.الله تعالى ته نه يې راليږلې.که ته په خپله دعوه کښې ريښتونې يې.نوپه مونږباندې دآسمان نه يوه ټکړه راوغورزوه.

Scanned with Ca

آسمانی عذاب په مونږ باندې راوله.لکه څنګه چه قریشو رسول الله ﷺ ته وئیلي وو.چه مونږ خوپه تاایمان نه راوړو.چه ترڅو پورې ته د عربوپه دې شګلنه زمکه کښې سمندر اونه بهیوې.تردې پورې نې اووئیل چه یاخوته په مونږ باندې دآسمان نه څه ټکړه راوغورزوه.لکه چه ستا خیال دې. یاته الله تعالی یا فرشتې په ښکاره راوله.په بل آیت کښې دی چه هغوی اووئیل اې الله! که دا ستا دطرفه دې اوحق دې نوته دآسمان نه کانړی راو وروه.دغه شان دې جاهل کافرانو اووئیل.چه ته په مونږ باندې دآسمان ټکړه راوغورزوه.پیغمبر ﷺ جواب ورکړوچه الله تعالی ته ستاسو عملونه ښه معلوم دی.چه دڅه تاسو لایق یئ هغه به پخپله اوکړی.که تاسودهغۀ په نزددآسمانی عذاب قابل یئ.نوهغه به بغیرتاخیرنه په تاسو باندې آسمانی عذاب راو وروی.الله تعالی ظالم نه دی.چه بې ګناه خلقوته سزاورکړی.آخرچه دوی کوم قسم عذاب غوښتلو.هغه شان عذاب په دوی باندې نازل شو.هغوی ته سخته ګرمی محسوس شوه.اووۀ ورځې پورې ګویا زمکه خوټ کیدله.هیڅ یوځائې کښې،په هیڅ یوسوری کښې یخوالې یا آرام نه ملاویدلو تنګ شول،ناقلاره شول.اووۀ ورځې پس هغوی اولیدل چه یوه توره وریځ هغوی طرف ته راروانه ده.وریځ راغله اودهغوی په سرونو باندې خوره شوه.دوی ټول د ګرمئ او دهوپ نه تنګ شوی وو. دهغې لاندې کیناستل.کله چه ټول په ټوله دهغې سوری ته اورسیدل.نودهغه وریځې نه اور وریدل شروع شو.ورسره زمکې هم په زور زورسره جهټکې ورکولې.اویو داسې زورسره یوآواز راغې.چه په هغې سره دهغوی زړونه اوچودل. روحونه ئې اووتل.او ټول په ټوله په یوآن کښې تباه او برباد شول.ددغه ورځې د سوری والا سخت عذاب په هغوی کښې یوکس هم پرې نخودلو.

په قوم شعیب درې قسمه عذابونه:- په سورۀ اعراف کښې خوفرمائیلی شوی دی.چه یوې زلزلې سره دوی ټول هلاک کړې شول.په سورۀ هودکښې بیان شوی دی.چه ددوی دتباهئ سبب یوه خطرناکه زړۀ چاودونکې چغه وه.او دلته بیان اوشوچه هغوی لره د سوری والا وریځې عذاب راګیرکړل.نودرې واړه خایونوکښې د دریو واړو عذابونوپه یویو ذکرکولوسره ددې مقام دعبارت مناسبت په وجه شوی دی.په سورۀ اعراف کښې ددوی ددې ګنډګئ ذکردې چه دوی حضرت شعیب ﷺ ته دهمکیانې ورکړې وې.چه که ته زمونږدین کښې رانغلې.نومونږبه تااوستاملګری دښارنه اوباسو.چونکه هلته دنبی د زړۀ خوزولو ذکروو.په دې وجه عذاب هم دهغوی د بدنونواو زړۀ خوزولو یعنی د زلزلې اوجهټکې ذکروو.په سورۀ هودکښې ذکردی چه هغوی خپل نبی ته دټوقو په طور وئیلی وو.چه ته خوډیر صبرناک او غوره سړې یې.مطلب داوو.چه ډیر بکواسی او ناکاره سړې یې. نو هلته عذاب کښې د چغې اوسخت آوازبیان وو.دلته چونکه ددوی آرزود آسمان د ټکړې غورزیدلو وو .نو د عذاب ذکرهم دچت په شان وریځې ټکړې سره اوشو.فسبحانه ماأعظم شانه.

د قوم شعیب د عذاب کیفیت:- دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ بیان دې چه اووۀ ورځو پورې داسې ګرمی وه چه الله دې مونږپه امان اوحفاظت کښې اوساتی.د یخوالی نوم نه وو.سخت تنګ شول.ددې نه پس یوه وریځ راغله راخوره شوه .د هغې سوری ته یوسړې اورسیدلو.اوهلته ئې راحت اویخوالې بیاموندلو.هغۀ نورخلق هم راوغوښتل .کله چه ټول جمع شول.نو وریځه اوچودله.او دهغې نه اور اووریدلو.داهم نقل دی.چه کومه وریځه چه د چت په طوروه.دهغوی جمع کیدوسره لرې شوه اود نمرنه په هغوی باندې اور اووریدلو.چه هغوی ټول ئې اوسوزول.محمدبن کعب رحمه الله قرظی فرمائی چه په اهل مدین باندې درې واړه عذابونه راغلل.په ښارکښې زلزله راغله.چه دهغې نه اویریدل اود ښار دحدونونه بهر راغلل .بهر جمع کیدوسره ویره، پریشانی او تکلیف شروع شو.نودهغه ځائې نه اوتښتیدل.لیکن ښارته تللونه اویریدل.هلته ئې اولیدل چه دوریځې یوه ټکړه یوځائې ده.یوکس دهغې لاندې لاړلو. او د هغې یخوالې ئې محسوس کړو .نو ټولوته ئې آواز ورکړو.چه دلته راشئ ددې په شان یخوالې او آرام خو ما کله

لیدلې هم نه دي.په دې اوریدوسره ټول دهغې لاندې جمع شول.چه ناڅاپه د یوې چغې اواز راغې.چه په هغې سره زړونه اوچودل.اوټول په ټوله مړۀ شول.دحضرت ابن عباس﵁ بیان دي.چه سخت ګرزاري او ګرمي شروع شوه .چه هغې سره ساګاني بندې شوې.او بې قلاري ډیره زیاته شوه.اویریدل ښارئې پریښودلو،په میدان کښې جمع شول.دلته وریځ راغله.چه دهغې لاندې یخوالی او راحت حاصلولودپارۀ ټول جمع شول.هلته اور اوورېدلو.اوټول اوسوزیدل.دا وه دچت والا ډیرې سختې وریخې عذاب،چه هغوی ټول ئې هلاک کړل(۱).یقینًا دا واقعه سراسر عبرت اودالله دقدرت یوه زبردسته نخښه ده.په هغوی کښې اکثریې ایمانه وو.الله تعالی دخپلو بدو بندګانونه په بدلې اخستلوکښې غالب دي.څوک هغۀ لره نه شي مغلوب کولې .هغه په خپلونیکوبندګانو باندې مهربان دي.هغوی بچ کوي.

وَاِنَّهٗ	لَتَنْزِيْلُ		رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۹۲﴾
او بیشکه دا قران	خامخا نازل کړې شوې پیغام دي		درب العالمین
اودا قران پاک درب العالمین رالیږلې پیغام دي			
نَزَلَ	بِهِ	الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ﴿۱۹۳﴾	عَلٰى قَلْبِكَ	لِتَكُوْنَ
نازل کړې دي	دا قران	روح امانتدار (جبریل)	په زړۀ ستا باندې	دپاره ددې چې شې ته
دا روح الامین(جبریل) راوړې نازل کړې دي استا(په زړه ئې نازل کړې دي) چې ته (ددې				
مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۱۹۴﴾	بِلِسَانٍ	عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ ﴿۱۹۵﴾	وَاِنَّهٗ
دخبر دارونکونه	په ژبه	عربئ ښکاره (صفا) سره	او بیشکه دا قران
په ذریعه)خلق دالله ﷻ نه اویروې اداپه واضحه عربئ ژبه کښې دي اوددې ذکردپخوانو			
لَفِيْ زُبُرِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۹۶﴾	اَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ	اٰيَةً	اَنْ يَّعْلَمَهٗ
خامخا په کتابونو رومبنو کښې دي	ایا نۀ ده	دپاره ددوئ	نښه	(داخبره) چې پوهیږي په دې قران
امتونو په کتابونو کښې راغلې دي	ایا دې خلقودپاره داخبره کافی دلیل نه دي	چې (ددې کتاب	
عُلَمٰٓؤُا	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۹۷﴾	وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ	عَلٰى بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ ﴿۱۹۸﴾
عالمان	دبنی اسرائیلو	او که نازل کړې وې مونږه دا	په یو باندې دعجمیانونه
حقیقت) دبنی اسرائیلو عالمانو ته معلوم دي	او که دا کتاب مونږ په چا عجمی باندې نازل کړې وې		
فَقَرَاَهٗ	عَلَيْهِمْ	مَّا كَانُوْا	بِهٖ	مُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۹۹﴾
پس لوستلې وې هغه دا	په دوئ باندې	نۀ به وۀ دوئ	په هغې باندې	ایمان راوړونکی
اوبیا هغه په دوئ باندې لوستلې هم وې	نو دوئ به منلې نه وو			

قوله تعالی:- وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۹۲﴾

درسول الله﵁ زړه دقران مسکن دي. دسورة په شروع کښې دقرآن کریم ذکرراغلې وو.هغه ذکربیان تفصیل سره بیانیږي.چه دا کتاب قرآن کریم الله تعالی په خپل بنده او نبی حضرت محمد مصطفی﵁ باندې نازل کړې دي.د روح الامین نه مراد حضرت جبرئیل﵇ دي.(۲)چه دهغۀ په واسطې سره وحی امام

---

(۱) الطبری : ۳۹٤/۱۹.

(۲) الطبری : ۳۹٦/۱۹.

Scanned with Ca

الانبیاءﷺ باندې نازله شوې ده.لکه چه فرمان دې ((قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ))یعنی دا قرآن دالله تعالی په حکم حضرت جبرئیلؑ ستاپه زړۀ باندې نازل کړې دې.دا قرآن د تیرشوو ټولو الهامی کتابونو رښتیا کونکې دې.دا فرشته زمونږپه نزد داسې عزت والاده.چه ددې دشمن زمونږ دشمن دې.

حضرت مجاهدؒ فرمائی.چه چاته روح الامین اووئیلې شی هغۀ لره زمکه نه شی خوړلې.دې بزرګ مرتبې والا فرشتې چه دا دفرشتو سردارده.ستاپه زړۀ باندې دا پاک او غوره کلام الله نازل کړې دې.چه دادهرقسمه خیرنوالی نه،کمی اوزیاتی نه،دنقصان او کوږوالی نه پاک دې.چه ته دالله تعالی مخالفین، ګنهګاران دالله تعالی دسزانه د بچ کولو رهبری اوکړې.اوتابعداروخلقوته دالله تعالی د مغفرت او رضا مندئ زیرې ورکړې.داپه واضح فصیحه عربیۀ ژبه کښې دې.چه هرسړې پوهه شی.اولوستلې ئې شی. چاته عذرپاتې نه شی.اوپه هریوباندې قرآن کریم دالله تعالی حجت جوړشی.یوځل نبی کریمﷺ د صحابوؓ په مخکښې ډیرفصاحت سره د وریځې صفتونه بیان کړل.چه ددې په اوریدو سره صحابوؓ اووئیل.چه اې دالله رسوله! تاسوخود کمال درجې فصیح اوبلیغ ژبه وایۀ.نبیﷺ اوفرمائیل.زما ژبه به داسې پاکیزه ولې نه وی.قرآن هم زماپه ژبه کښې نازل شوې دې.((بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ)) امام سفیان ثوریؒ فرمائی.وحی په عربیۀ کښې نازل شوې ده.دابله خبره ده چه هرنبی دخپل قوم دپاره دهغوی په ژبه کښې ترجمه اوکړله.دقیامت په ورځ به سریانی ژبه وی.البته دجنتیانو ژبه به عربی وی.(ابن حاتم)

قوله تعالی:- أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ آيَةً

د قرآن دحقانیت پوخ ثبوت او دعیسی ﷺ خطبه:- فرمائی چه دالله تعالی په تیرو شووکتابونوکښې هم ددې پاک اود الله دآخری کلام پیش ګوئی اوددې تصدیق اوصفت موجود دې.مخکښې نبیانوهم ددې زیرې ورکړې دې.تردې چه هغه ټولونبیانو آخری نبی چه دهغوی نه پس رسول اللهﷺ پورې بل څوک نبی نه وو.یعنی حضرت عیسیﷺ بنی اسرائیل راجمع کړل خطبه ئې ورکړله.په هغې کښې فرمائی. ائې بنی اسرائیلو! زۀ ستاسوطرف ته دالله تعالی رالیږلې شوې رسول یم.چه دمخکینو کتابونو رښتیا ګنړلو سره سره دراتلونکی رسول حضرت محمدﷺ زیرې هم تاسوته اوروم. زبور دحضرت داؤدﷺ دکتاب نوم دې.دلته زُبُرٍ لفظ دکتابونوپه معنی کښې دې.لکه چه فرمان دې ﴿وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ﴾کوم څه چه دوی کوی ټول په کتابونوکښې لیکلی شوی دی.بیا فرمائی.که دوی پوهه شی ضد اوتعصب اونکړی.نود قرآن په حقانیت باندې دا دلیل څه کم دې.چه پخپله د بنی اسرائیلو عالمان دامنی.په دوی کښې چه کوم حق ویونکی اوتعصب نه کونکی دی.هغوی د توراة هغه آیاتونه خلقوته ښکاره کوی.په کوم کښې چه دنبی کریمﷺ نزول قرآن ذکر اود رسول اللهﷺ دحقانیت خبردې.حضرت عبدالله بن سلامؓ،حضرت سلمان فارسیؓ اوددوی پشان حق ګوحضرات ددنیاپه مخکښې دتوراة اوانجیل هغه آیاتونه پیش کړل. کوم چه د رسول اللهﷺ شان ښکاره کونکی وو.ددې نه پس والا آیت مطلب دادې.چه که دا فصیح اوبلیغ جامع مانع حق کلام مونږپه یوعجمی باندې نازل کړې وې. بیاخوهیڅ شك نه شوکیدلې.چه دا زمونږکلام دې.خود قریش مشرکان په خپل کفر اوخپله سرکشئ کښې دومره زیات شوی وو.چه دغه وخت هم هغوی ایمان نه راوړلو.لکه چه فرمان دې.چه که دآسمان دروازه هم هغوی دپاره کھلاؤ شوې وې،او دوی په خپله ختلې وې،بیابه ئې هم دا وئیل چه مونږباندې نشه څکولې شوی ده.زمونږپه سترګو باندې پرده اچولې شوې ده.په بل آیت کښې دی چه که دوی ته فرشتې راغلې وې.او مړو خبرې کړې وې،بیابه هم دوی ته ایمان نه وې نصیب شوې.په دوی باندې دعذاب خبره ثابت شوه.دهدایت لاره ددوئ نه بنده کړې شوې ده .

Scanned with Ca

كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ

دارنګې ننښتلې دې مونږه دا ذکر | په زړونو دمجرمانو کښې | نه راوړی ایمان دوئ | په دې (قرآن) |

دغه شان مونږ (داعناد او انکار) دمجرمانو په زړونو کښې اچولې دې | دوئ په دې ایمان نه راوړی | تر دې چې

حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۝ فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً

تر هغې پورې | چې اوویني دوئ عذاب | دردناك | نو رابه شی دغه عذاب دوئ ته | ناسپه |

دردناک عذاب په خپلو سترګو اونه وینی | خو (هغه عذاب به پرې) داسې ناګهانه راشی

وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝ فَيَقُوْلُوْا هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُوْنَ ۝

او حال دا چې دوئ | به نه پوهیږی | نو وائی به دوئ | آیا مونږ ته | مهلت ملاویدې شی نور

چې دوئ به ترې خبر هم نه وی | نو په هغه وخت کښې به اووائی | چې آیا مونږ له به مهلت راکړې

اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ۝ اَفَرَءَيْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ

آیا پس عذاب زمونږ ته | تلوار کوی دوئ | آیا نو ستا څه خیال دې | که نفع ورکړو مونږ دوئ ته |

شی؟ | نو آیا دوئ زمونږ عذاب زر غواړی | ورته اووایه چې که مونږ یو څو کاله دوئ

سِنِيْنَ ۝ ثُمَّ جَآءَهُمْ مَّا كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ۝

ډیر کلونه | بیا راشی دوئ ته | هغه عذاب | چې دی دوئ | چې یرولې کیږی دهغې نه |

په عیش عشرت کښې اوساتو | اوبیا پرې هغه عذاب راشی | دکوم چې ورسره وعدې

مَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ ۝

نو په کار به رانه شی | ددوئ | هغه څیزونه چې وو دوئ | چې فائده به ورکولې شوه دوئ ته په هغې سره

شوی دی | نو ددوئ هغه عیش عشرت به څه کار ورکړی ؟ ....او مونږ چې کوم کلی

وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا لَهَا مُنْذِرُوْنَ ۝ ذِكْرٰى ۛ

اونه دی هلاك کړې مونږه | دهیڅ ښار نه | مګر | هغې لره به ووۀ | یرونکی | نصیحت |

تباه کړی دی | نو هغوی ټولو ته د نصیحت دپاره یرونکی (پیغمبران) راغلی وو | او مونږ

وَمَا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۝

اونه ووۀ مونږه | ظالمان |

په چا ظلم نه کوؤ |

قوله تعالیٰ:- كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝

عذاب دحجت تمامیدونه پس راځی: تکذیب، کفر، انکاراونه منل ددې مجرمانوپه زړۀ کښې کینولې شوی وو. دوی چه ترڅو پورې عذاب په خپلو سترګو اونه وینی. ایمان به رانه وړی. داوخت که ایمان راوړی نوهم بالکل فضول به وی. لعنت به پرې شوې وی، بدی به ورته ملاوشوی وی. نه به افسوس په کارراشی، نه به معذرت نفع ورکړی. دالله ﷻ عذاب به راځی. او ناڅاپه یکدم به بې خبرئ کښې راځی. دغه وخت ددوی آرزوګانې چه که لږشان مهلت هم ملاوشی نونیکان به جوړشو. هیڅ فائده به نه

Scanned with Ca

ورکوی.یواځې په دوی موقوف نه ده بلکه هرظالم، فاجر،فاسق، کافر،بدکارچه عذاب اووینی نوسم شی.توبه توبه به کوی خوهیڅ فائده به نه ورکوی. فرعون ته اوګورئ! حضرت موسیٰ ﷺ هغهٔ دپاره خیری اوکړلې چه قبولې شوې.چه عذابونه ئې اولیدل،په ډوبیدوشو،نووې ونیل چه اوس زهٔ مسلما نیږم.لیکن جواب ملاوشو.چه دا ایمان فضول دې.دغه شان په نوروآیاتونوکښې دی.چه زمونږ عذابونه ئې اولیدل نودایمان اقرارئې اوکړو.

قوله تعالیٰ:- اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ۝

بیا ددوی یوه بله بدبختی بیانیږی.چه دوی به خپلو نبیانوته ونیل.که رښتونی یئ نوعذاب راولئ: اګر چه مونږدوی ته مهلت ورکړو،اوڅه ورڅو پورې، څه مودې پورې دوی دعذابونونه بچ اوساتو.بیا دوی ته زمونږ مقررعذاب راشی.نوددوی حال،ددوی نعمتونه، ددوی مالداری غرض هیڅ څیز دوی ته ذره برابرهم فائده نه شی ورکولې.دغه وخت خوبه دا معلومیږی چه شاید یوسحر یا یومابنام په دنیاکښې اوسیدلی یو.لکه چه په بل آیت کښې دی. ﴿يَوَدُّ اَحَدُهُمْ﴾ په دوی کښې د یویوکس خواهش دې چه زرزرکاله ژوندې وی.لیکن دومره عمرهم دالله دعذاب نه نشی لرې کولې.دلته ئې هم اوفرمائیل.چه د دوی اسباب به ددوی هیڅ په کارنه راځی.دده د پرمخې غورزیدوپه وخت به ددهٔ ټول طاقتونه او اسباب دغه شان پروت په پروت پاتې شی.لکه چه صحیح حدیث کښې دی.چه کافربه دقیامت په ورځ راوستلې شی.بیابه ورته په اورکښې یوه غوبه ورکړی اوتپوس به ترې اوکړې شی.چه تاکله راحت هم موندلې دې؟ نوهغه به اووائې.چه په الله قسم! ماکله هم څه راحت نه دې لیدلې.اویو سړې به راوستلې شی.چه هغهٔ به ټول عمر یقیناً چه هیڅ راحت نه وی موندلې.هغهٔ ته به دجنت هوا ګهلاوکړې شی.او سوال به ترې اوشی.چه تاپه ټول عمر کښې کله څه بدی لیدلې ده؟ نوهغه به اووائی.اې الله ستاپه پاك ذات قسم! ماکله هم څه تکلیف نه دې لیدلې.(۱)حضرت عمرؓ به عام طوردا شعر ونیلو.چه کله ته خپل مراد ته اورسیدلې.نوګویا تادڅه تکلیف نوم هم نه دې اوریدلې.

قوله تعالیٰ:- وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ

د الله ﷻ دعدل بیان:- الله ﷻ ددې نه پس دخپل عدل خبر ورکوی.چه هغه کله هم دحُجت پوره کیدونه مخکښې یوامت نه دې ختم کړې.رسولان لیږی،کتابونه نازلوی،خبرونه ورکوی،هوښیار کوی،بیا په نه منونکوباندې لوئې لوئې مصیبتونه راځی.پس وې فرمائیل چه داسې کله هم نه دی شوی.چه دنبیانو رالیږلونه مخکښې مونږپه یوامت باندې عذاب رالیږلې وی.ویرونکی رالیږی،نصیحت بیانوی، عُذرونه لرې کوی.بیاپه نه منونکوباندې عذاب راځی. لکه چه وې فرمائیل.ستا رب هیڅ یوکلې نه هلاکوی.چه ترڅو پورې ددغه کلوپه غټ کلی کښې څوك رسول اونه لیږی.چه هغه هغوی ته زمونږ آیاتونه واوروی.

وَمَا تَنَزَّلَتْ	بِهِ	الشَّيٰطِيْنُ۝	وَمَا يَنْۢبَغِيْ	
| اونهٔ دې نازل کړې | دا قرآن |		شیطانانو |	اونهٔ ښائی (داراوړل)
| اوداقرآن پاک شیطانانو نه دې راوړې |اودا دهغوئ دپاره مناسب هم نه				
لَهُمْ	وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ۝	اِنَّهُمْ	عَنِ السَّمْعِ	لَمَعْزُوْلُوْنَ۝
هغوئ لره |اونهٔ طاقت لری هغوئ	| بیشکه هغوئ | داوریدلو ددې نه |			لرې ساتلې شوی دی |
دی |اونه دا دهغوئ دوس کار دې |هغوئ ددې (پاک کلام داوریدلو (قدر نه) هم محروم دی				

---

(۱) صحیح مسلم کتاب المنافقین باب صبغ انعم اهل الدنیا فی النار وصبغ اشدهم بوسا فی الجنة: ۲۸۰۷.

قوله تعالی:- وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ۝
قرآن نوردهدایت دي -داعزت والا کتاب چه دي سره خواکښي هم باطل نه شی پاتي کيدي.چه دا د حکيم اوحميد الله دطرفه نازل شوي دي.چه دي لره روح الامين راوړلي دي.چه هغه قوت اوطاقت والا دي.دي لره شيطانانو نه دي راوړلي.بيائي ددوی په نه راوړلوباندي دري وجهي بيان کړی دی. يوه خو دا چه دوی ددي لائق هم نه دی.ددوی کارمخلوق بي لاري کول دی.په سمه لار راوستل نه دی. امر بالمعروف اونهی عن المنکر چه داددي کتاب شان دي.دهغوی سراسر خلاف دي.دا نوردي،دا هدايت دي،دا برهان دي،او شيطانان ددي دريو واړوخيزونونه نفرت کوی .دوی خو ظلمت غواړی ،د گمراهئ مشران دی،جهالت باندي قربان دی.پس په دي کتاب اوهغوی کښي خوتباين اواختلاف دي. چرته هغوی اوچرته دا،بله وجه داده چه څنگه هغوی ددي اهل نه دی.په هغوی کښي ددي داوچتولو او راوړلو طاقت هم نشته.دا خوهغه عزت او مرتبي والا کلام دي.چه که يو لوئي نه لوئي غرباندي نازل شی نوهغه به ټکړي ټکړي کړی.بيائي دريمه وجه بيان کړله.چه هغوی خوددي د نزول په وخت لړي کړي شوی وو.هغوی ته خو اوريدل هم ملاونه شول.په ټول آسمان باندي سخته پهره اوځوکيداری وه. دوی اوريدو دپاره ختلی وو.نوپه دوی باندي اور ورولي شو.ددي يوحرف اوريدل هم ددوی دطاقت نه بهر وو چه دالله تعالی کلام په محفوظ طريقه باندي دهغۀ نبی ﷺ ته اورسيږی.او دهغۀ په واسطي سره دالله مخلوق ته اورسيږی لکه چه په سورۀ جن کښي پخپله دجناتومقوله بيان شوي ده چه مونږآسمان او لټولونودامودسختي پهري اوځوکيداریٔ نه ډك بيامونږلو.اوخائي په خائي موشعلي مقرراومونږلي .مخکښي خوپه مونږ کيناستلو،يوهئيمه خبره مواوريدله.ليکن اوس خو غوږ ايخودلوسره شعله باندي لګو اوپه سوزولوسره مو ايري کوی.

فَلَا تَدْعُ	مَعَ اللّٰهِ	اِلٰهًا اٰخَرَ	فَتَكُوْنَ	مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ۝	وَاَنْذِرْ
پس مۀ رابله تۀ	دالله سره	معبود بل	اپس شي به تۀ	دسزا کړي شوۀ نه	اواويروه
نو ته الله ﷻ سره دبل معبود بلنه مه کوه				کښی تاته به عذاب درکړي شی	او نزدي
عَشِيْرَتَكَ	الْاَقْرَبِيْنَ ۝	وَاخْفِضْ	جَنَاحَكَ	لِمَنِ	اتَّبَعَكَ
خپلوان ستا	نزدي	او ښکته کړه	وزر خپل	هغه چاته	چی پيروی نې کړی ده
خپلوان دي(دعذاب نه)	اوويروه	اوهغه مومنانو ته خپل اړخ ښکته کړه			کوم چې
مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝	فَاِنْ عَصَوْكَ	فَقُلْ	اِنِّيْ		
دمومنانونه	پس که چری هغوئ نافرماني اوکړه ستا	نو اووايه	بيشکه زۀ		
ستا په قدم پسې روان دی	اوکه داخلق ستا خبره اونه منی	انو ورته اووايه چې زۀ			
بَرِيْٓءٌ	مِّمَّا	تَعْمَلُوْنَ ۝	وَتَوَكَّلْ	عَلَى الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۝	
ذمه وار نۀ يم	دهغې	چی تاسو ئې کوئ	اوبروسه کوه	په الله غالب رحيم باندي	
ستاسو دکارونوبه بې زاره يم	او په قادر اومهربان الله ﷻ باندي بهروسه کوه				
الَّذِيْ	يَرٰىكَ	حِيْنَ	تَقُوْمُ ۝	وَتَقَلُّبَكَ	
هغه الله	چی وينی تا	اپه هغه وخت کښی	چی پاسې تۀ (تهجدته)	او وينی گرځيدل ستا	
هغه تاگوری څۀ وخت چې ته (مونځ دپاره)	اودريږې	او په مونځ گزارو کښې ستا ښکته			

Scanned with Ca

فِي السّٰجِدِيْنَ ﴿۲۱۹﴾	اِنَّهٗ	هُوَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ ﴿۲۲۰﴾
په سجده کونکو کښې	بیشکه هغه	خاص هغه	نبه اوریدونکې دي	نبه عالم دي
پورته کیدل هم وینې	هغه ډیر نبه اوریدونکې په هر څه پوهه دي			

قوله تعالى:- فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا

دالله ﷻ خپل نبی ته هدایت:- الله تعالی خپل نبی ﷺ ته خطاب کوی فرمانی چه صرف زما عبادت کوه. ما سره څوك مه شریکوه.چه څوك هم داسې اونکړی هغه ضرورمستحق دسزادي.خپل نزدې رشته دار خبردارکړه.چه سواد ایمان نه هیڅ یو څیزنجات ورکونکی نه دي.بیا حکم ورکوی.چه مؤحد د سنت متبع خلقوسره په خوشحالئ سره یوخائې اوسیږه.اوچه څوك هم زما نه منی.که هغه څوك هم وی.ته د هغۀ سره تعلق مه ساته.اوخپله بیزاری ورته ښکاره کړه.دا خاص طورسره خاصوخلقوته تنبیه، عاموخلقوته د تنبیه منافی نه ده.ځکه چه دادهغې حصه ده.بل ځائې ارشاددي.ته هغه قوم اویروه.چه د هغوی مشران هم نه دی یرولی شوی.چه هغوی په غفلت کښې پراتۀ دی.په بل آیت کښې دی ﴿وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا﴾ چه ته مکې والا او ددې ګیرچاپیره خلق ټول اویروی.په بل آیت کښې دی.ته ددې نه هغه څوك خبردارکړه څوك چه خپل رب سره دجمع کیدونه ویریږی.په بل آیت کښې ئې ارشاد اوفرمائیلو.چه ته په دې سره پرهیزګارانوته خوشخبری واوروه.او نافرمان اویروه.په بل آیت کښې ئې اوفرمائیل. ﴿لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ﴾ چه زه په دې قرآن سره تاسواوچه چاته هم دا اورسیږی اویروم.بل فرمان دې.چه دې سره په دې ټولوډلوکښې څوك هم کُفر اوکړی.دهغۀ سزاجهنم دې.دصحیح مسلم په حدیث کښې دی.چه دهغه ذات قسم دچا په قبضه کښې زما ساه ده.په دې اُمت کښې چه دچا په غوږ کښې زما خبر اورسی.که هغه یهودی وی اوکه نصرانی اوبیاهغه په ما باندې ایمان رانۀ وړی.نوضروربه جهنم ته ځی.ددې آیت په تفسیرکښې ډیر حدیثونه دی.واؤرئ![1]

قوله تعالى:- وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿۲۱۴﴾

دصفا په غرباندې دنبی ﷺ دتوحید اعلان:- په مسنداحمد کښې دی.چه کله الله تعالی داآیت نازل کړو.نو نبی کریم ﷺ صفا غرته اوختلو.او یَاصَبَاحَاه کولوسره ئې آواز اوکړو.خلق جمع شول.څوك چه نه شو راتلې هغوی خپل سړی راولیږلو.دغه وخت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.اې د عبدالمطلب اولاده! اې د فهراولاده! تاسو اووایئ که زه تاسوته اووایم.چه ددې غرپه شا باندې ستاسو د دشمن لښکر پروت دي.حملې ته تیاردي.موقعه موندلوسره به تاسوټول قتل کړی.نو آیا تاسوبه ما رښتونې اوګڼړئ؟ټولوپه یوآواز اوونیل.چه آو مونږبه تا رښتونې ګڼړو.اوس نبی کریم ﷺ اوفرمائیل واورئ! زه تاسود راتلونکو سختو عذابونونه ویرونکې یم.په دې باندې ابولهب ملعون اووئیل.ته هلاك شې هم ددې اورولو دپاره دې مونږ راغوښتلی وو. ددې په جواب کښې سورۀ تبت یدا نازل شو([2]).(بخاری ومسلم وغیره)

❷ په مسنداحمد کښې دی.چه ددې آیت په نازلیدلو دالله تعالی نبی ﷺ پاسیدلو.اووې فرمائیل.اې فاطمه بنت محمد!اې صفیه بنت عبدالمطلب واورئ! زه دالله تعالی په نزدستاسوپه څه کارنه شم راتلې.البته ماسره چه کوم مال دي چه څومره غواړئ زه درکولو دپاره تیاریم.(مسلم)([3]) ابوهریره ﷺ

---

[1]) ددې تخریج سورة آل عمران کښې آیت نمبر ۲۰ لاندې تیر شوې دې .

[2]) احمد:۱/۳۰۷، صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الشعراء باب﴿ وانذر عشیرتک الاقربین واخفض جناحک ﴾ : ۴۷۷۰. صحیح مسلم: ۲۰۸، ترمذی : ۳۳۶۳.

[3]) احمد: ۶/۱۸۷، صحیح مسلم کتاب الایمان باب فی قول الله تعالی ﴿ وانذر عشیرتک الاقربین﴾ :۲۰۵.

Scanned with Ca

فرمانی.چه ددې ایت نازلیدلوسره نبی کریمﷺ قریش راوغوښتل.اوهغوی ته ئې ویو ته اوعام طور باندې خطاب اوکړو ،وې فرمائیل.چه اې قریشو! خپل ځانونه دجهنم نه بچ کړئ.اې دکعب خاندان والو! خپل ځانونه د اورنه بچ کړئ.اې دهاشم اولاد والو! خپل ځانونه دالله د عذابونونه خلاص کړئ.اې د عبدالمطلب ځامنو! دالله دعذابونونه د بچ کیدو کوشش اوکړئ.اې فاطمه بنت محمد! خپل ځان ددوزخ نه بچ کړه.زه دالله سره دهیڅ ځیز مالك نه یم.بیشکه ستاسو رشته داری ده.چه دهغې دنیاوی حقونو کښې په هرشان اداکولو ته تیاریم(۱).(مسلم وغیره)

په بخاری کښې هم لږ دالفاظو تبدیلئ سره داحدیث نقل دې.په هغې کښې داهم دی.چه نبی کریمﷺ خپلې ترورحضرت صفیهؓ او خپلې لور حضرت فاطمیؓ ته داهم اوفرمائیل.چه زما دمال نه دې څه خوښ وی اوغواړه.په ابویعلی کښې دی.چه نبیﷺ اوفرمائیل.اې دقصی،اې دهاشم،اې د عبدمناف اولاده!یادساتئ! زه یرونکې یم.او مرګ بدله ورکونکې دې.ددې چهاپه راروانه ده.اوقیامت د وعدې ځائې دې.(۲)

په مسنداحمدکښې دی.چه په نبیﷺ باندې دا آیت نازل شو.نوهغوی یوغرته اوختل.چه دهغې په غونډئ باندې کاټې وو.نبیﷺ چه هلته اورسیدلو،نووې فرمائیل.اې بنو عبدمناف! زهٔ خو صبر خبردار کونکې یم.زما اوستاسو مثال داسې دی.لکه چه یوسړی دُشمن اولیدلو.اوپه منډه دخپلوخلقو خبردارکولو دپاره راغې.چه هغوی حفاظت اوکړی.د لرې نه هغه شور جوړکړو.چه دمخکښې نه خبردار شی(۳).(مسلم نسائی وغیره)

حضرت علیؓ نه نقل دی.چه کله دا آیت نازل شو.نونبی کریمﷺ خپل اهل بیت جمع کړل.دا دیرش سړی وو.کله چه هغوی خوراك څکاك اوکړو.نونبیﷺ اوفرمائیل.څوك شته چه هغه زما قرض په خپله ذمه واخلی.اوزما نه روستو زما وعدې پوره کړی.هغه به جنت کښې هم زما ملګری اوزما په اهل کښې به هم زما خلیفه وی.نویوسړی اووئیل.چه تاسوﷺ خو یوسمندر یئ.تاسوسره څوك اودریدلې شی؟ دری خل نبیﷺ اوفرمائیل.لیکن څوك تیار نه شول.نوما اووئیل اې دالله رسولهﷺ! زه ددې دپاره تیاریم(۴).(مسنداحمد)

یوبل سند سره ددې نه زیات تفصیل سره روایت دې.چه نبیﷺ بنوعبدالمطلب جمع کړل.دا یوه ډله وه.او ډیر خوراکیان وو.یویو سړی به د یوې یوې چیلئ بچې خوړلو.یوه غټه پیالئ به ئې د پیوځکله نبیﷺ دهغوی ټولو دپاره صرف دری پاؤ ته نزدې خوراك پوخ کړو. لیکن الله تعالی په هغې کښې دومره برکت واچولو.چه ټولوپه مړه خیټه اوخوړلو.اوښه په مړه خیټه ئې اوځکل.لیکن نه خوپه خوراك کښې کمی ښکاریدله.نه دځکلوځیزکم شوې معلومیدلو.بیا نبیﷺ اوفرمائیل.اې د عبدالمطلب اولاده! زه تاسو طرف ته خصوصاً اوټولو خلقوطرف ته عام طورباندې نبی جوړشوې رالیږلی شوې یم.دا وخت تاسو سوه معجزه هم زما اولیدله.اوس په تاسوکښې څوك تیاردی.چه ماسره بیعت اوکړی.هغه به زما رور او زما ملګری وی.لیکن یوسړی هم په ډله کښې پاتهٔ سیدلو، سوا زما نه.اوزه هغه وخت د عمر په لحاظ سره دهغوی ټولونه وړوکې ووم.نبیﷺ اوفرمائیل.ته کینه.دری خل نبیﷺ هم دا اوفرمائیل.او دری واړه خل سوا زمانه بل څوك پاته سیدلو.په دریم خل نبیﷺ زه بیعت کړم.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الایمان باب قول ﴿ وانذر عشیرتک الاقربین﴾: ۲۰٤، ترمذی : ۳۱۸٤.

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الشعراء باب قول ﴿ وانذر عشیرتک الاقربین﴾:٤۷۷۱. صحیح مسلم: ۲۰٦.

(۳) صحیح مسلم: ۲۰۷، السنن الکبری للنسائی : ۱۸۱۵. احمد:۵/۶۰.

(۴) احمد: ۱۱۱/۱، وسنده ضعیف جدا عباد بن عبدالله سخت ضعیف دې او اعمش مدلس راوی دې .

Scanned with Ca

امام بیهقی رحمه الله په دلائل النبوت کښې نقل کړی دی.چه کله دا ایت نازل شو.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.که زهٔ خپل قوم ته اوس دا پیش کړم.نوهغوی به اونه منی.او داسې جواب به راکړی.چه مابه خفه کړی.پس نبی ﷺ خاموش شو.په دې کښې حضرت جبرئیل علیه السلام راغې.او وې فرمائیل.حضرت! که تاسوپه ارشاد منلوکښې تاخیراوکړو نوویره ده چه تاته به سزاملاوشی.هم هغه وخت نبی ﷺ علی رضی الله عنه راوغوښتلو.اووې فرمائیل.ماته حکم شوې دې.چه زهٔ خپل نزدې رشته داران اویروم.ما دا خیال اوکړو .چه که دمخکښې نه هغوی ته اووئیلې شی.نودوی به ماته داسې جواب راکړی.چه په هغې سره به ماته تکلیف اورسیږی. نو زهٔ خاموش شوم.لیکن جبرئیل راغې.اووې وئیل چه که تاداسې اونکړل.نوتاته به عذاب اوشی.نو اوس اې علی! ته یوه چیلئ ذبح کړه،غوښه پخه کړه.اوځه دریې سیره غله هم تیاره کړه.او یوه غټه پیالئ دپیوهم ډکه کړه.اود عبدالمطلب اولادهم جمع کړه.ماهم دغه شان اوکړل.اوټولوته مې دعوت ورکړو . څلویښت سړی جمع شول.که یونیم کم یا یونیم زیات وو. په هغوی کښې دنبی ﷺ ترونه هم وو.ابو طالب، حمزه، عباس رضی الله عنهم او ابولهب کافرخبیث. ما اینکلې پیش کړو.نونبی ﷺ دهغې نه یو پوټې واخستلو.څه ئې اوخوړلو،بیائې په کټوئ کښې واچولو.اووې فرمائیل.دالله نوم واخلئ او خوراک شروع کړئ.ټولو خوراک شروع کړو. تردې چه خیټې ډکې شوې.لیکن په الله قسم! غوښه هغومره وه څومره چه دایخودلوپه وخت پرته وه.صرف دهغوی دګوتو نخښې وې.خو غوښه لږه هم نه کمه شوې نه وه.حالانکه هغوی کښې به یویوکس ډیر زیات غوښه خوړله.بیائې ماته اوفرمائیل اې علی! په دوی پئ اوځکوه. ما هغه پیالئ راوړله.ټولوپه نمبرنمبر په مړه خیټه اوځکل.اوښه مارهٔ شول.لیکن پئ بالکل کم نه شول. حالانکه هغوی کښې به یویوکس دومره پئ ځکل.اوس نبی کریم ﷺ څه فرمائیل اوغوښتل لیکن ابو لهب په جلتئ پاسیدهٔ.اووې وئیل.اې صاحبه! اوس معلومه شوه.چه دا ټوله جادوګری صرف ددې دپاره ود.نومجمع هم هغه وخت پاسیدله.اوهر یوپه خپله لار روان شو.اونبی کریم ﷺ ته دنصیحت اوتبلیغ موقع ملاؤ نه شوه.

په دویمه ورځ نبی ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته اوفرمائیل.نن بیادغه شان هغوی ټولوته دعوت اوکړه.ځکه چه پرون هغهٔ ماته د وئیلوموقع رانکړه.مابیا هغه شان انتظام اوکړو. ټولوته مې دعوت ورکړو.هغوی راغلل خوراک څکاک ئې اوکړو.بیاد پرون پشان نن هم ابولهب پاسیدهٔ.هم هغهٔ خبره ئې اوکړه.اوهغه شان خوارهٔ وارهٔ شول.په دریمه ورځ بیا نبی کریم ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته هم دا اوفرمائیل.نن چه کله ټولو خوراک څکاک اوکړو.نونبی ﷺ په جلتئ سره خپله خبره شروع کړله.اووې فرمائیل.اې بنوعبدالمطلب! په الله قسم! هیڅ یوځوان سړی خپل قوم ته ددې نه غوره خیرنه دې راوړلې.کوم چه ماتاسوته راوړلې دې.ماد دنیا اواخرت خیر راوړلې دې(۱).

په بل روایت کښې ددې نه پس داهم دی.چه نبی ﷺ اوفرمائیل.اوس اووایئ په تاسوکښې څوک زما موافقت کوی او زما ملګرتیا کوی؟ ماته دالله تعالی حکم شوې دې چه مخکښې زهٔ تاسوته ددې لارې دعوت درکړم.څوک چه نن زما اومنی.هغه به زما رور وی.او دا دا درجې به ملاویږی.ټول خاموش شول.لیکن حضرت علی رضی الله عنه چه هغه دغه وخت په دغه مجمع کښې دټولونه کم عمره وو.او خوږسترګو والا،او غټې خیټې والا،او غټو پنډو والاوو.هغهٔ اووئیل.چه اې دالله رسوله ﷺ! په دې کارکښې ستاسو وزارت زه قبلوم. نبی ﷺ زما په څټ باندې لاس کیخودلو،اووې فرمائیل.چه دا زما رووردې.او داسې داسې فضیلتونو والادې.تاسو ددهٔ اورئ او منئ.په دې اوریدوسره هغوی ټول په خندا پاسیدل.او ابو طالب ته ئې اووئیل.اوس ته دخپل بچی آوره او منه(۲).لیکن ددې راوی عبدالغفاربن قاسم ابومریم

---

۱) دلائل النبوة (۱۷۸/۲ . ۱۸۰)

۲) ابن جریر

Scanned with Ca

متروك دي.كذا ب دي.او شيعه هم دي.ابن مدينى وغيره فرمانى.دۀ به دغانه حديثونه جوړول.نورو آئمه دحديثوهم دۀ لره ضعيف ليكلي دي.په بل روايت كښې دى.چه په دې دعوت كښې صرف د چيلې د يوې خپې غوښه پخه شوې وه.په هغې كښې داهم دى.كله چه نبى ﷺ خطبه وركړله.نوهغوى فورا اووئيل چه دنن پشان جادو خومونږكله هم نه دې ليدلې.په دې باندې نبى ﷺ خاموش شو.په هغې كښې دنبى ﷺ خطبه داده.چه څوك دې هغه كس چه هغه زما قرض په خپله ذمه واخلى.اوزما په اهل كښې زما خليفه جوړشى.په دې باندې ټول خاموش شول.او عباس ﷺ هم چپ وو.صرف دخپل مال د بُخل په وجه ما عباس ﷺ خاموش اوليدلو اوخاموش شوم.نبى ﷺ دوباره هم دا اوفرمائيل.دوباره هم هرطرف ته خاموشى وه.اوس خوزۀ چپ نه شوم پاتې كيدې.اوما اووئيل.زۀ دغه وخت دهغوى ټولونه كمزورى حالت والا،خوږ سترګو والا، غټې خيټې والا، او درنو پندو والا ووم.

په دې روايتونوكښې چه كوم دنبى كريم ﷺ فرمان دې.چه څوك زما قرض په خپله ذمه اخلى.اوزما نه پس زماد اهل حفاظت په خپله ذمه اخلى.ددې نه دنبى ﷺ مطلب داوو.چه زۀ كله داد دين تبليغ خوروم او خلق دالله توحيد طرف ته رابلم.نوټول په ټوله به زما دشمنان جوړشى.اوما به قتل كړى.هم دا ويره نبى ﷺ ته لګيدلې وه.تردې چه دا آيت نازل شو.﴿وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾الله تعالى به تادخلقو د تكليف رسولونه بچ كوى، ،دغه وخت نبى ﷺ بې خطرې شو.ددې نه مخكښې به نبى ﷺ خپله پهره او څوكئ هم كينوله.ليكن ددې آيت نازليدلونه پس ئې داهم لرې كړل.دغه وخت يقينا په ټول بنوهاشم كښې د حضرت على ﷺ نه زيات ايمان والا اوتصديق اويقين والا څوك نه وو.په دې وجه صرف هغه نبى ﷺ سره اقراراوكړو.ددې نه پس نبى ﷺ په صفا غرباندې دعوت وركړو.اوخلق ئې خالص توحيد طرف ته راوبلل.او دخپل نبوت اعلان ئې اوكړو.

قوله تعالى:- فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾

تسلى ته نبى ﷺ ته اوترغيب الى الايمان:- په ابن عساكركښې دى.چه يوځل حضرت ابودرداء ﷺ په جمات كښې ناست وو.وعظ ئې كولو.فتوې ئې وركولې.مجلس پوره ډك وو.دهريوسترګو دهغوى مخ ته كتل.او شوق سره ئې اوريدل.ليكن دهغۀ څوې او كوروالا سړى په خپل مينځ كښې ډير بې پرواهئ سره په خپلو خبروكښې مشغول وو.چاحضرت ابودرداء ﷺ متوجه كړو.چه نورټول خلق خوپه زړۀ سره ستاسو علمى خبرې اورى.ستاسو دكورخلق ددې نه بالكل بې پرواه دى.هغوى په خپلوخبروكښې ډير بې پرواهئ سره مشغول دى.نوهغوى په جواب كښې اوفرمائيل.ماد رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى.ددنيا نه بالكل يوطرف ته كيدونكى انبياءعليهم السلام وى.او په هغوى باندې دټولونه زيات سخت او بوج د هغوى رشته داران وى.هم په دې باره كښې آيت ﴿واذكر﴾نه﴿تعلمون﴾ پورې دې.

بيا فرمائى.په خپلوټولوكارونوكښې خاص په الله تعالى باندې اُميد ساتئ.هم هغه ستا حفاظت كونكې اومددګاردې.هم هغه ستا تائيدكونكې او ستاكلمې لره اوچتونكې دې.دهغۀ نظر هروخت په تا باندې دې.لكه چه فرمان دې﴿وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا﴾دخپل رب په حكمونوباندې صبركوه.ته زمونږد سترګو په وړاندې يې.دامطلب هم دې.چه كله ته مانځۀ ته اودريږې.نو زمونږ دسترګومخكښې يې.مونږ ستا ركوع اوسجدې وينو.([1])كه ولاړ يې اوكه ناست يې،ياپه بل حالت كښې يې زمونږپه نظر كښې يې.يعنى كه په يواځې والى كښې ته مونځ كوې.نو مونږتا وينو.اوكه جماعت سره كوې نوزمونږ دنظر مخكښې يې.([2])دامطلب هم دې.چه الله تعالى به دمونځ په حالت كښې څنګه نبى ﷺ ته دهغوى مخامخ څيزونه

([1]) الطبرى : ٤١٢/٩.

([2]) الطبرى : ٤١٣/٩.

Scanned with Ca

خودل، دنبی ﷺ شاته مقتدیان به هم دهغوی په نظر کښې وو. لکه چه حدیث کښې دی چه نبی ﷺ به فرمانیل. صفونه نیغ ساتئ. زۀ تاسو دخپل شا نه وینم (۱). ابن عباس ﷺ دامطلب هم بیانوی. چه دنبی دشا نه دبل نبی شاطرف ته منتقل کیدل مونږ مسلسل لیدل. تردې چه ته په حیثیت د نبی دنیاته راغلې. هغه الله ﷻ دخپلوبندګانوخبرې ښه آوری. ددوی په حرکتونو اوخاموشئ ښۀ پوهیږی. لکه چه فرمائی ﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ﴾ ته چه په کوم حالت کښې یې، ته چه کوم قرآن لولې، ته چه کوم عمل کوې، په هغې مونږ ګواه یو.

هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ

ایا خبر درکړم تاسو ته اے خلقو | په هغه چا | چې راکوزیږی پرې | شیطانان | هغه راکوزیږی |

ایازه تاسو ته اوښایم چې شیطان په چا باندې راکوزیږی | هغوئ په هر

عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ

په هر دروغژن | ګنهګار باندې | رسوی شیطانان | غوږونو ته اوریدل (خبری) | او اکثر دهغوئ |

دروغژن بدکار باندې راکوزیږی | چې هرې خبرې ته غوږ ایږدی | اودا سې خلق زیات

كَاذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾ وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمْ تَرَ

دروغژنان دی | او شاعران (خلق) چې دی | پیروی کوی دهغوئ | ګمراهان خلق | ایا نۀ وینې تۀ

دروغژن وی | اوپاتې شول شاعران نودهغوئ په لاره خو ګمراه خلق روان دی | آیا تاته معلومه نه ده

أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ

چې بیشکه هغوئ | په هره کنده کښې | سرګردانه ګرزی | او بیشکه چې هغوئ | وائی

چې هغوئ په هر میدان کښې سرګردان ګرځی | اوهغه څۀ وائی چې په خپله پرې

مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

هغه څه | چې نۀ ئې کوی هغوئ | مګر | هغه کسان | چې ایمان ئې راوړو | او عملونه ئې اوکړل

عمل نه کوی | سوا دهغه خلقو نه چې ایمان ئې راوړې دې | او ښه ښه کارونه کوی | او الله

الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ

نیك | او یاد کړو هغوئ الله | ډیر | او صرف بدل ئې واغستو | پس دهغې نه

ډیر ډیر یادوی | اوکله چې په هغوئ ظلم اوکړې شی | نو د هغې نه روستو

مَا ظُلِمُوا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ

چې ظلم اوشو په هغوئ | اوزر به پوهه شی | هغه خلق | چې ظلم ئې اوکړو | چې دکوم انجام سره به

خپله بدله نه اخلی | ظالمانو ته به ډیر زر معلومه شی | چې هغوئ دعذاب کوم خراب

يَنْقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

مخ کیږی هغوئ |

خائې ته واپس تلونکی دی

(۱) صحیح بخاری کتاب الاذان باب تسویة الصفوف عندالاقامة وبعدها: ۷۱۸.

Scanned with Ca

قوله تعالی:- هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ ﴿

قران دکاهن، شاعر یاشیطان قول بالکل نه دي بلکه؟ مشرکانوبه وئیل چه دنبی کریم ﷺ راوړلي شوي داقرآن حق نه دي.دوی دادخانه جوړکړي دي.یا دوی ته دجناتو سردار راځی.اوهغه ئي ورته ښائی.پس الله تعالی خپل رسول ﷺ ددي اعتراض نه پاك کړو.اوثابته ئي کړه چه نبی کریم ﷺ کوم قرآن راوړلي دي.دا د الله تعالی کلام دي.هغه نازل کړي.بزرګ، امانتدار،طاقتور فرشتي راوړلي دي.داد شیطان یاجن د طرفه نه دي.شیطانان خود قرآن په تعلیم غصه کیږی.ددي تعلیم خودهغوی بالکل خلاف دي. دهغوی څه کاردي چه داسي پاکیزه اوپه نیغه لار باندي راوستونکي قرآن هغوی راوړی.او خلقوته نیغه لار اوښائی.هغوی خودځان پشان انسانی شیطانانوته راځی.چه هغوی په مړه خیټه دروغ ویونکی وی. بد کرداراوګناهګاروی.داسي کاهنانو،بدکارانو،اودروغژن خلقوته جنات اوشیطانان راځی.ځکه چه هغوی هم دروغژن او بدعمله دی.راتختولي بعضي نیم خبره آوری او رسوی.اوهغه یوه نیمه خبره کومه ئي چه آسمان نه په پټه اوریدلي وی.په هغي کښي نوري خبري ملاوئ اود کاهنانو غوږونوته ئي رسوی.هغوی د خپل طرفه بیا ډیري خبري ملاوهی اوپه خلقوکښي ئي خوروی.بس اوس یوه ربنتیا خبره خوربنتیا شی.لیکن خلقو دهغوی نوري سل دروغ خبري هم ربنتیا اومنلي.او تباه شول.

قوله تعالی:- تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿

کاهنانو ته خبري شیطان راوړی:- په بخاری کښي دی چه خلقودکاهنانو باره کښي درسول الله ﷺ نه سوال اوکړو.نونبی ﷺ اوفرمائیل.هغه هیڅ ځیزنه دي.خلقو اووئیل.اې دالله رسوله ﷺ! کله کله خو د هغوی خبره ربنتیاکیږی هم.نبی ﷺ اوفرمائیل.او داهم هغه خبره وی.کومه چه جنات دآسمان نه راتختوی.اود هغوی غوږونوته ئي رارسوی.بیا دهغي سره سل دروغ خبري دخپل طرفه یوځائي کوی. (۱)

د صحیح بخاری په یوحدیث کښي داهم دی.چه کله الله تعالی دځه کارفیصله په آسمان کښي کوی. نو فرشتي په ادب سره خپلي وزري خوروی.داسي آواز راځی.لکه چه په یوه غونډۍ باندي زنځیر شړ نګیږی.کله چه دا ویره دهغوی د زړونونه لرې شی.نوپه خپل مینځ کښي تپوس کوی.چه د رب څه حکم اوشو؟نوري جواب ورکوی.چه حق ئي اوفرمائیل.اوهغه ډیر اوچت اولوئي شان والادي.کله کله دالله ﷻ حکم په غلا پټ اوریدونکی جن په غوږونوکښي هم پریوځی.چه هغه دغه شان یوپه یوهلته رسیدلي وی.د حدیث راوی حضرت سفیان رضی الله عنه دخپلو لاسونوګوتي خورې کړلي.په هغي ئي بل لاس داسي کیخودۀ.اودهغي په خوزولوئي اوخودل.چه دغه شان اوس پورتنۍ لاندینۍ ته اوهغه دځان نه لاندي والا ته هغه خبره ښائی.تردي چه جادوګرو اوکاهنانوته هغه اورسوی.کله داسي هم کیږی.چه د خبري رسولونه مخکښي شعله رارسی.اوکله ئي دهغي نه مخکښي هغوی رسوی.په هغي کښي کاهنان جادوګرخپل سل دروغ ملاوی اومشهوروی.چونکه هغه یوه خبره ربنتیا راوځی.خلق ټولي خبري ربنتیا ګڼي(۲).ددي ټولو حدیثونوبیان به د ﴿حَتَّىٰ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ﴾ په تفسیر کښي راشی. انشاءالله.

قوله تعالی:- وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ ﴿

دبخاری په یوحدیث کښي داهم دی.چه فرشتي دآسمانی حکم خبري اتري په وریځوکښي کوی.چه هغه شیطانان اوری او کاهنانوته ئي رسوی.اوهغوی په یو ربنتیا کښي سل دروغ ملاوئ.بیا فرمائی.چه د کافرانوشاعرانو تابعداری ګمراهان خلق کوی.دعربوشاعرانو دستور وو.چه دچا په مذمت اورسوایئ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قراء الفاجر والمنافق اصواتهم وتلاوتهم ...:۷۵۶۱.

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة سبا باب (حتی اذا فزع عن قلوبهم قالوا ماذا قال ربکم....): ٤٨٠٠. ابوداود: ۳۹۸۹.

Scanned with Ca

کښې به ئې څه وئيل.دخلقو يو جماعت به هغوی سره شو.اودهغوی په آوکښې به ئې آو ملاؤولو.رسول الله ﷺ دصحابو ﷺ يوجماعت سره په عرج کښې روان وو.چه يوشاعرشعرونه ويونکې ملاوشو.نبی ﷺ اوفرمائيل.دا شيطان اونيسئ.يائې اوفرمائيل منع ئې کړئ.څوک چه په تاسوکښې د وينې او زوې نه خپله خيټه ډکه کړی دادی نه غوره ده چه هغه دشعرونونه خپله خيټه ډکه کړی.هغوی په ځنګل کښې ټکرې وهلې او هيڅا اونه ليدل(۱).په هرفضول کښې دوی شريکيږی.دکلام په هرفن کښې لګياوی.کله د چا په تعريف کښې د زمکې اوآسمان لوئې والې ملاوی.(۲)کله دچا په مذمت کښې آسمان زمکه په سراوچتوی.(۳)دروغ تعريفونه،خوشامدی کونکې خبرې،دروغ بدئ،دخانه جوړې شوې بدئ دهغۀ په حصه کښې را ځی.د ژبې باتوران وی.ليکن د کارسست وی.يوانصاری اودبل يوقوم سړی په مقابله کښې هجوه اوکړله.چه په هغې کښې د دواړو قومونو لوئې لوئې خلق هم دهغوی ملګری شول.

په شعر کښې د اعتراف جرم حد کښې د علماء کرامو اختلاف:-پس په دې آيت کښې هم دادی چه ددوی سره ملګرتياکونکی ګمراه خلق هم دادا خبرې جوړوی(۴).چه داکله هم نه وی شوې.په دې وجه عالمانوپه دې خبره کښې اختلاف کړې دی.چه که يوشاعرپه خپل شعرکښې ديوې داسې ګناه اقرار اوکړو.چه په هغې باندې شرعی حد واجبيږی.نوآياداحد به په هغۀ باندې جاری کيږی اوکه نه؟دواړوطرف ته عالمان تلی دی.يقيناً هغوی فخر اوغرورسره داسې خبرې جوړوی.چه مادا اوکړل او دامې اوکړل. حالانکه نه به ئې څه کړې وی اونه کولې شی.

اميرالمؤمنين حضرت عمربن الخطاب ﷺ دخپل خلافت په زمانه کښې حضرت نعمان بن عدی بن نضلۀ دبصرې ښار يسار ګورنر کړې وو اودې شاعر وو،ده يوځل پخپلو شعرونوکښې اووئيل چه آيا حسينانو (ښائستاؤ) ته دا خبرنه دې شوې.چه دهغوی محبوب په يسان کښې دې.چه هلته هروخت د شيشې په ګلاسونو کښې د شرابو دورچليږی.اود کلی دپيغلوجينکو ګانې او دهغوی ګډا اولوبې هم کيږی.البته که زما د يودوست نه کيدې شی نودهغې نه دې غټ او ډک جامونه په ما اوڅکی. ليکن د هغې نه واړه جامونه زما سخت ناخوښه دی.الله دې اوکړی چه اميرالمؤمنين ته زما داخبر اونه رسی. ګنی هغه به بد اوګنړی.اوسزا به راکړی.دا اشعارپه ربښتيا حضرت اميرالمؤمنين ﷺ ته اورسيدل.هغه سخت خفه شو.اوهم دغه وخت ئې سړې رااوليږلو.چه ته ماد عهدې نه معزوله کړې.اوهغوی يوخط اوليږلوچه په هغې کښې د(بِسْمِ اللّٰهِ)نه پس د(حٰمٓ)دری آياتونه(اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ)پوری اوليکل بيائې اوليکل. چه ستا شعرونه ما واوريدل زۀ سخت خفه شوم.زۀ تا ستاد عهدې نه معزولوم .بس دې خط لوستلوسره حضرت نعمان ﷺ دربارخلافت ته حاضرشو.او ادب سره ئې عرض اوکړو.چه اميرالمؤمنين! په الله قسم! نه ماکله شراب څکلی، نه مې ډمتوب، ګانې بجانې ليدلی اونه مې اوريدلی.داخو صرف د شاعرئ يو ترنګ وو.اميرالمؤمنين ﷺ اوفرمائيل.هم دا زما خيال دې ليکن زما همت نه جوړيږی چه داسې فحش ويونکی شاعرته څه عهده ورکړم.پس معلومه شوه چه دحضرت عمر ﷺ په نزدهم شاعرپه خپلو شعرونو کښې دغه جرم په اعلان باندې حد سره نه شی وهلې.اګرچه هغه قابل دحد وی.خکه چه هغوی هغه وائی چه کوی ئې نه.البته هغه قابل دملامتيا اود رټلو لائق ضروردې.

---

۱) صحيح بخاری کتاب بدء الخلق باب صفة ابليس وجنوده : ۳۲۸۸.
۲) الطبری : ۴۱۷/۱۹.
۳) احمد: ۸/۳ صحيح مسلم کتاب الشعر باب انشاد الاشعار وبيان الشعر الکلمة وذم الشعر: ۲۲۵۹.
۴) الطبری : ۴۱۷/۱۹.

Scanned with Ca

رسول کریم ﷺ د کاهنۍ او شاعرئ نه پاک دي:- په حدیث کښې دی چه خیټه ګلمې د پیپ نه ډکول د شعرونو ډکولونه بهتر دی(۱).مطلب دادې چه رسول کریمﷺ نه خوشاعردې.نه جادوګردې نه کاهن دې نه دځانه جوړونکې دې.دهغوی ظاهری حال هم دهغوی ددې عیبونونه دپاکوالی ډیر لوئې عادل ګواه دې.لکه چه فرمان دې.چه نه خومونږ هغوی ته شعرونیل خودلی دی.نه هغه ددې لائق دې.داخو صرف نصیحت دې.اوپه قرآن مبین کښې دې.په بل آیت کښې دی چه درسول کریمﷺ قول دې.دشاعرنه دې په تاسوکښې دایمان کمې دی.دا دکاهن قول نه دې.په تاسوکښې دنصیحت منلو ماده کمه ده.داخو د رب العالمین نازل کړې شوې کتاب دې.په دې سورة کښې نې هم دا اوفرمائیل.چه دا درب العالمین د طرفه نازل شوې دې.روح الامین ستاپه زړۀ باندې نازل کړې دې.په عربئ ژبه کښې دې.دې دپاره چه ته خلق هوښیارکړې.دې لره شیطانان نه راوړی.نه هغوی ددې لائق دی.نه دهغوی د وس خبره ده.هغوی خوددې داوریدلونه هم لرې کړې شوی دی.څوک چه دځانه جوړونکې او بدکردار وی.هغوی ته شیطانان راځی.چه هغوی راتختولې شوې اوریدلې شوې خبرې اوروی.دهغوی غوږونوته نې اچوی.خالص دروغ ویونکی پخپله وی.د شاعرانو ملګرتیا د فضولوخلقو کاردې.هغوی خوپه هره وادئ کښې سرګردانه وی.هسې د ژبې خبرې جوړوی. دعمل نه ناآشنا وی.

قوله تعالی:- اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

مؤمن شاعران ددې حکم نه مستثنی دی:- ددې نه پس چه کوم فرمان دې.دهغې شان نزول دادې چه ددې نه پس آیت چه په هغې کښې د شاعرانومذمت دې.چه کله نازل شونود رسول اللهﷺ د دربار شاعران حضرت حسان بن ثابتؓ، حضرت عبدالله بن رواحهؓ اوکعب بن مالکؓ په ژړا دنبیﷺ دربارته حاضر شول.اووې وئیل چه اې دالله رسولهﷺ! دشاعرانو خودا حال شو اومونږهم شاعران یو. دغه وخت نبیﷺ دا دویم آیت تلاوت کړو.چه ایمان والا اونیک عمل کونکی تاسو یئ.د الله ذکرکثرت سره کونکی تاسو یئ.سره د مظلوم کیدونه بدله نه اخستونکی تاسویئ.پس تاسو دهغوی نه جدا یئ (۲).(ابن ابی حاتم وغیره)

په یو روایت کښې دحضرت کعبؓ نوم نشته.په یو روایت کښې صرف دحضرت عبدالله‌ؓ په دې شکایت باندې چه اې دالله رسولهﷺ! شاعر خوزۀ هم یم.ددې دویم آیت نازلیدل نقل دی.خودا قابل د شك دې.ځکه چه دا سورة مکی دې انصارشاعران په مکه کښې نه وو.هغوی ټول په مدینه کښې وو.بیا د هغوی باره کښې دا آیت نازلیدل به یقیناً قابل دغور وی.اوکوم حدیثونه چه بیان شول هغه مرسل دی.په دې وجه اعتماد پرې نه شی کیدې.دا آیت بې شکه د استثناء باره کښې دې.اوصرف هم دا انصاری شاعران ؓ نه بلکه که یوشاعر دخپل جاهلیت په زمانه کښې داسلام اومسلمانانوخلاف هم شعرونه وئیلې وی.اوبیا هغه مسلمان شی توبه اوکړی اودهغې په مقابله کښې دالله ذکر کثرت سره اوکړی. هغه بې شکه د بدئ نه جدادې.نیکئ بدو لره لرې کوی.حالانکه هغۀ مسلمانانوته اود الله دین ته بدونیلی وو.هغه بد وو.لیکن کله چه هغه تعریف اوکړو.هغه بدی په ښۀ والی بدل شوه.لکه چه حضرت عبدالله بن الزبعریؓ داسلام نه مخکښې د نبی کریمﷺ هجوه بیان کړې وه.لیکن داسلام نه پس ئې ډیرتعریف بیان کړو.اوپه خپلو شعرونو کښې ئې ددې هجوه عذرهم بیان کړو.چه هغه وخت زه د شیطان په پنجه کښې راګیر ووم.دغه شان ابوسفیان بن حارث سره ددې چه د رسول اللهﷺ دترۀ خوی وو. خود نبیﷺ دشمن وو.او ډیره هجوه به نې کوله.کله چه مسلمان شو.نوداسې مسلمان شو.چه په ټوله دنیا کښې دنبی کریمﷺ نه زیات محبوب هغۀ ته هیڅوک نه وو.اکثربه نې درسول اللهﷺ تعریف

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الشعر باب فی انشاد الاشعار وبیان الشعر الکلمة وذم الشعر: ۲۲۵۸.

(۲) الطبری: ۴۲۰/۱۹.

بیانولو.او ډیره مینه اومحبت به ئې ساتلو.

د ابو سفیان د رسول کریم ﷺ نه درې مطالبې او د هغې منظوری:- په صحیح مسلم کښې دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی.چه ابوسفیان صخربن حرب چه کله مسلمان شو.نونبی کریم ﷺ ته ئې اووئیل.ماته درې څیزونه راکړئ.یوخو داچه زما څوئې معاویه خپل کاتب جوړکړئ.دویم ماکافرانوته جهاد دپاره اولیږئ. او ماسره یو لښکرهم کړه.چه لکه څنګه به په کفرکښې مسلمانانوسره جنګیدم.اوس په اسلام کښې کافرانوسره جنګ اوکړم.نبی ﷺ دواړه خبرې قبول کړې.یو دریم درخواست ئې هم قبول کړې شو (۱).پس داسې خلق ددې آیت دحکم نه په دې دویم آیت سره جدا کړې شول.دالله ذکرکه په خپلو شعرونوکښې کثرت سره کوی اوکه په بله طریقه په خپل کلام کښې، یقیناً دا د تیرو شوو ګناهونو بدله اوکفاره ده.

دخپل مظلوم کیدو بدله اخلی.یعنی دکافرانو دهجو(مذمت) جواب ورکوی.(۲)په خپله نبی کریم ﷺ حضرت حسان رضی الله عنه ته فرمائیلی وو.ددې کافرانو هجو اوکړه جبرئیل علیه السلام تاسره دی.(۳) حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه شاعرچه کله د شاعرانو بدی په قرآن کښې واوریدله نونبی کریم ﷺ ته ئې عرض اوکړو.نبی ﷺ اوفرمائیل.ته دهغوی نه نۀ یې.مؤمن خوچه څنګه خپل خان سره جهاد کوی.خپلې ژبې سره هم جهاد کوی.په الله قسم! ستاسو شعرونه خوهغوی لره د مجاهدینود غشوپه شلوی(۴).بیائې اوفرمائیل .ظالمانوته به خپل انجام هم معلوم شی.دهغوی عُذر اومعذرت به هم هیڅ په کار رانه شی.نبی کریم ﷺ فرمائی.چه دظلم نه خان ساتئ.په دې سره به دقیامت په میدان کښې په تیاروکښې پاتې شئ.(۵)آیت عام دی.کۀ شاعران وی اوکه غیرشاعران ټولوته شامل دی.

قوله تعالی:- وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوٓا

دا ایت مبارک عام دی دی کښې شاعر او غیر شاعر ټول شامل دی:- حضرت حسن رحمه الله د یونصرانی جنازه روانه اولیده نوهم دا آیت ئې تلاوت کړلو. هغوی چه به کله ددې آیت تلاوت کولونو دومره به ئې ژړل چه ساه به ئې بنده شوه.روم ته چه کله حضرت فضاله بن عُبید رحمه الله تشریف یوړلو.هغه وخت یوصاحب مونځ کولو.کله چه هغوی دا آیت تلاوت کړلو.نووې فرمائیل.ددې نه مراد دبیت الله بریادونکی دی.ونیلې شوی دی چه ددې نه مراد اهل مکه دی.داهم نقل دی چه مراد مشرکان دی.حقیقت دادې چه آیت عام دی ټولوته شامل دی.په ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی.چه زما پلارحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دخپل وفات په وخت خپل وصیت صرف په دوٗو کرښوکښې لیکلې وو.چه هغه داوو.بسم الله الرحمن الرحیم دا وصیت دی دابوبکربن ابی قحافه هغه وخت کله چه هغه دنیا پریښودله.کوم وخت چه کافرهم مؤمن جوړیږی.او فاجر هم توبه اوباسی.او دروغژن هم رښتیا ګنړلې شی.زۀ په تاسوباندې خپل خلیفه عمربن خطاب رضی الله عنه جوړوم.که هغه عدل اوکړی نو ډیره ښۀ ده. او زما خپل ګمان هم دهغۀ سره دادې اوکه هغه ظلم اوکړی اوځه تبدیلی اوکړی.نوزۀ په غیب نه پوهیږم . ظالمانوته به ډیره زر معلومه شی.چه کوم دتلو ځائې ته هغوی ورځی.

﴿ الحمد لله ﴾ د سورۀ شعرا تفسیرختم شو.

.....

.....

---

(۱) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة من فضائل ابی سفیان صخر بن حرب رضی الله عنه : ۲۵۰۱.

(۲) صحیح مسلم کتاب بدء الخلق باب ذکر الملائکة صلوات الله علیهم: ۳۲۱۳.

(۳) احمد: ۳۸۷/٦، ابن حبان: ۵۸۷٦.

(۴) احمد:۳۸۷/٦،

(۵) صحیح مسلم کتاب البر باب تحریم الظلم: ۲۵۷۸. ابن حبان: ۵۱۷٦.

Scanned with Ca

آیاتونه	سورة النمل مکیة وهی ثلاث وتسعون اية وسبع رکوعات	رکوع ګاني
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
﴿۴۳﴾	شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان زیات رحم کونکی دی	⑦

طٰسٓ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿۱﴾ هُدًى

ط . س | دا | آیتونه دقرآن دی | او دکتاب مبین (حق بیانونکی) دی | لارښودونکی دی |

ط س دا د قرآن پاک او روښانه کتاب آیتونه دی | مومنانو دپاره

وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ﴿۲﴾ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ

او زیری دی | دپاره دمومنانو | هغه (مومنان) | چی قائیموئ | مونځ | اوورکوی

هدایت او زیری دی | هغه کوم چې دمونځ پابندی کوی | اوزکوة ورکوی | او

الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

زکات | او هغوئ | په اخرت باندې | خاص هغوئ یقین لری | بیشکه هغه کسان | چی ایمان نه راوړی

په اخرت باندې پوخ یقین ساتی | کوم کسان چې په الله ﷻ او په آخرت ایمان نه راوړی

بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ؕ﴿۴﴾

په اخرت باندې | ښائیسته کړی دی مونږ | دپاره دهغوئ | عملونه دهغوئ | پس هغوئ | سرګردانه ګرځی

نومونږ دې خلقوته خپل (بد) عملونه ښائسته کړی دی | نو هغوئ سرګردان ګرځی

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

دا هغه خلق دی | چې ددوئ دپاره | سختی دعذاب ده | او دوئ | په آخرت کښې |

هم دا کسان دی چې دوئ دپاره سخت عذاب مقرر شوې دې | او هم دوئ به آخرت کښې

هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ﴿۵﴾ وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ

هم دوئ تاوانیان دی | او بیشکه ته چی ئې | خامخا ملاویږی تاته | دا قرآن | دطرفه

تولو نه زیات تاوانیان وی | اوتاته داقرآن پاک د حکیم او علیم ذات د

حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ﴿۶﴾

دحکیم او علیم نه |

طرفنه درکولې شی |

قوله تعالی:- طٰسٓ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿۱﴾

ترغیب الی القران ،وصفات المؤمنین:- حروف مقطعات کوم چه د سورتونوپه شروع کښې راځی په دې باندې پوره بحث د سورهٔ بقره په شروع کښې مونږ کړې دی.دلته ددوباره کولوضرورت نشته.قرآن کریم چه داکهلاؤ،واضحه،روښانه اوښکاره کتاب دی.داددې آیاتونه دی چه دادمؤمنانودپاره هدایت او بشارت دی.ځکه چه هم دوی په دې باندې ایمان راوړی.ددې اتباع کوی.دا ربښتیا منی.په دې کښې چه کوم

Scanned with Ca

احکام دی.په هغې باندې عمل کوی.هم داهغه خلق دی.چه مونځونه صحیح طورسره کوی.په فرضو کښې کمې نه کوی.دغه شان فرض زکواة هم نه بندوی.اوپه آخرت باندې هم کامل یقین ساتی. د مرګ نه پس ژوند ،بدله اوسزاهم منی.جنت اودوزخ حق ګڼړی.لکه چه په بل آیت کښې دی چه ایماندارو دپاره خوداقرآن هدایت اوشفاعت دې.اودبې ایمانه خلقوغوږونه خوکانړه دی.پدې ئې مالوچ ورکړې دې.

پدې کښې پرهیزګارانو دپاره خوشخبری ده او بدکارانودپاره په دې کښې ویره ده.دلته نې هم فرمانیلی دی چه څوک دا دروغ ګڼړی.اوقیامت راتلونکې نه منی.مونږهم هغوی پریږدو.دهغوی بدئ هغوی ته ښه ښکاری.هم دوی زیاتیږی اوخوشحالی کوی.اوپخپله سرکشئ او ګمراهئ کښې زیاتیږی.ددوی نظرونه او زړۀ الټه شوی دی. دوی ته به په دنیا اوآخرت کښې سختې سزاګانې وی.اود قیامت په ورځ به ټول محشر والو کښې دټولونه زیات نقصان کښې هم داخلق وی.بې شکه ته ای زمونږنبی! زمونږ نه قرآن اخلی.زه حکیم یم.د امر اونهی په حکمت باندې ښۀ پوهیږم.علم والا یم.د ورځو او غټوکارونونه ښه خبردارم.پس د قرآن ټول خبرونه یاالکل ریښتیا اوصداقت والادی.اوددې ټول حکمونه ټول په ټوله عدل او انصاف والادی.لکه چه فرمان دې ﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ﴾

اِذْ	قَالَ مُوْسٰى	لِاَهْلِهٖٓ	اِنِّيْٓ	اٰنَسْتُ	نَارًا ؕ
	کله چې اوونیل موسی کورواله خپلو ته		چې بیشکه ما	اولیدو	وور
	هرکله چې موسی علیه السلام خپل کور والا ته اووئیل		چې ما	اور	اولیدلو
سَاٰتِيْكُمْ	مِّنْهَا	بِخَبَرٍ	اَوْ اٰتِيْكُمْ	بِشِهَابٍ قَبَسٍ	
زر به راوړم زۀ تاسو ته	دهغه ځائې نه	څه خبر	یا به راوړم تاسو ته	لمبه لګیدلې	
زۀ ستاسو دپاره دهغې نه څۀ خبر راوړم			ایا به یوه بله سکروټه راوړم		
لَعَلَّكُمْ	تَصْطَلُوْنَ ۝	فَلَمَّا	جَآءَهَا	نُوْدِيَ	
دپاره ددې	چې تاسو تاوده شی	نو هر کله چې	راغې هغه هغې وور ته	اواز اوشو	
حاصله کړئ	کله چې موسی علیه السلام هلته اورسیدو		نو اوازورته اوشو	چې کومې(فرښتې) اور	
اَنْۢ بُوْرِكَ	مَنْ	فِي النَّارِ	وَمَنْ	حَوْلَهَا ؕ	
چې برکتناک کړې شوې دې	هغه څوک	چې په دې وور کښې دې	او هغه څوک	چې چاپیره ددې دې	
کښې دننه دی	هغه هم برکتې دی	اوکومې چې ددې نه ګیرچاپیره دی		هغه هم مبارکې دی	
وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ	رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝	يٰمُوْسٰٓى	اِنَّهٗٓ	اَنَا اللّٰهُ	
او پاکی ده الله لره	چې پالونکې دمخلوقاتو دی	اے موسی	شان دادې	چې زۀ الله یم	
اوالله پاک د ټولو مخلوقاتو پالونکې دې		ائې موسی یقیناً هم زۀ په حقیقت کښې د عبادت لائق یم			
الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ ۝	وَاَلْقِ	عَصَاكَ ؕ	فَلَمَّا	رَاٰهَا
غالب (او)	حکمت والا یم	اواوغورزوه	همسا خپله	نو هر کله چې	اولیدله هغه همسا
غالب او دحکمتونو خاوند یم		اوته خپله همسا	اوغورزوه	انو کله چې موسی علیه السلام	اوکتل
تَهْتَزُّ	كَاَنَّهَا	جَآنٌّ	وَّلّٰى	مُدْبِرًا	وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ
چې خوزیدله	لکه چې هغه	نرې مار دې	نو اوګرځیدو	شاکونکې	اوراونۀ ګرځیدو بیرته
نوهغه داسې خوزیده	لکه چې ماروی	انوپه شا طرف ته نې منډه کړه		اوروستو نې اونه کتل	

Scanned with Ca

يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۖ اِنِّىْ لَا يَخَافُ لَدَىَّ الْمُرْسَلُوْنَ ۝

اے موسی | مه یریږه | بیشکه زهٔ چی یم | نه یریږیٔ | زما په دربار کښی | رسولان

(مونږ ورته آواز اوکړو چې) ائې موسی! ته مه ویریږه | زما په دبار کښې پیغمبران نه ویریږی

اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوْٓءٍ

مګر | هغه څوک | چی ظلم کړې وی | بیا ئې ابدل کړو (عمل خپل) | په نیکیٔ سره | روستو دبدیٔ نه

البته چا چې ظلم کړې وی | بیا د بدئی په ځائې نیک کارونه کوی

فَاِنِّىْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِىْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ

نو بیشکه زهٔ | ښښونکې | مهربانه یم | او ننباسه | لاس خپل | په ګریوان خپل کښی | راابوبهٔ وخی

نوزهٔ ښښونکې مهربان یم | او ته خپل لاس ګریوان ته داخل کړه | نو بغیر د څه عیب نه به

بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۖ فِىْ تِسْعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرْعَوْنَ

تك سپین (خلیدونکې) ابې دځه تکلیف (عیب) نه | په نهه | ننښو (معجزو) کښی | (دادوه نښې) فرعون ته

تک سپین راوخی | دا په هغه نهو معجزو کښې ده | چې فرعون اوددهٔ

وَقَوْمِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝ فَلَمَّا

او قوم دهغه ته (دتلو دپاره) | بیشکه هغوئ | دی یو قوم | فاسقان (نافرمانه) | نو هر کله چی

دقوم دپاره دی | ځکه چې هغوئ دحد نه وړاندې تیریدونکی خلق دی | نوځه وخت

جَآءَتْهُمْ اٰيٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

راغلې هغوئ ته | ننښې زمونږه | ښکاره | نو اووئیل هغوئ | دا جادو دې | ښکاره

چې فرعونیانو ته زمونږ روښانه معجزې راورسیدې | نو هغوئ اووئیل چې داخوښکاره جادو دې

وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا

او انکار اوکړو هغوئ | په دې ننښو | او یقین ئې راغلې وو | په دې | دنفسونو دهغوئ | په وجه دظلم

اودظلم او کبر په وجه ئې د هغې نه انکار اوکړو | د دې باوجود چې په زړونو کښې ئې پرې یقین

وَّعُلُوًّا ؕ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ۝

او دسرکشئ | پس اوګوره | څه رنګې وو | انجام | دفساد کونکو

راغلې ووانو ته اوګوره چې ددغې مفسدانو انجام څهٔ شو ؟ | اومونږ

قوله تعالی:- اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ اِنِّىْٓ اٰنَسْتُ نَارًا ؕ

دموسی علیه السلام وادئی مقدس کښې ورلیدل اونبوت ملاویدل:- الله ﷻ خپل محبوب ﷺ ته دموسی علیه السلام واقعه وریادوی.
چه الله ﷻ هغهٔ لره څنګه بزرګ جوړکړو. اودهغهٔ نه ئې کارواخستلو. اوهغهٔ ته ئې زبردستې معجزې
ورکړلې. او فرعون او فرعونیانوته ئې خپل رسول جوړکړې اولیږلو. لیکن هغې کافرانودهغوی نه
انکاراوکړو. خپل کفر اوتکبرئې پرې نخودلو. دهغوی فرمانبرداری اوتابعداری ئې اونکړله. فرمانی چه

Scanned with Ca

کله موسیﷺ خپل اهل روان کړو.او لاره تري هیره شوه.شپه راغله اوهغه هم ډیره سخته تیاري والا وه.نوهغوی اولیدل چه دیوطرفه د اورپه شان شُعله په نظر راځی.خپل اهل ته ئې اوفرمائیل.چه تاسو دلته اودریږئ.زهٔ دې رنړا ته ورځم.کیدې شی چه هلته څوك وی چه دهغوی نه لاره معلومه شی.یازهٔ د هغه ځائې نه څه اور راوړم.چه تهٔ په هغې سره څه ګرمی حاصله کړې.هم دغه شان اوشوه چه هغوی د هغه ځائې نه یولوئې خبر راوړلو.او ډیرلوئې نورئې حاصل کړو.فرمائی چه کله هلته اورسیدلو.دا منظرئې چه اولیدلو نوحیران شو.څه ګوری چه یوه شنه وُنه ده.چه دهغې نه اور چاپیره دې.شعلې ئې تیزیږی.اود وُنې شین والې نورهم زیاتیږی.چه پورته ئې اوکتل نووې لیدل چه دغه نورآسمان پورې رسیدلې دې.په حقیقت کښې هغه اورنه وو.بلکه نوروو.او نورهم د﴿رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ وحدہ لاشریك له﴾ دې(۱) حضرت موسیﷺ حیران شو.اوهیڅ خبره ئې په پوهه کښې نه راتله.چه ناڅاپه یو آواز راغې.چه په دې نورکښې څوك دې.هغه پاکئ والا او بزرګئ والادې.اودهغهٔ سره چه کومې فرشتې دی هغه هم مقدس دی(۲).

الله تعالی اودهٔ کیږی نه:- رسول اللهﷺ فرمائی.چه الله تعالی اودهٔ کیږی نه.اونهٔ هغهٔ سره اوده کیدل مناسب دی.هغه تلې لره ښکته کوی او پورته کوی.دشپې کارونه هغهٔ طرف ته د ورځ نه مخکښې،اود ورځ کارونه دشپې نه مخکښې خیژی.دهغهٔ حجاب نوردې یا اوردې.اوکه هغه لرې شی.نودهغهٔ دمخ تجلی به هرهغه څیز اوسوزوی چه هغې ته دهغهٔ نظر رسیږی یعنی ټول کائنات.ابوعبیدهؒ دحدیث راوی ددې بیانولونه پس دا آیت تلاوت کړلو.دا الفاظ دابن ابی حاتم دی.اوددې اصل په صحیح مسلم کښې دې(۳).پاك دې هغه چه دټول جهان پالونکې دې.څه چه غواړی هغه کوی،په مخلوق کښې څوك هم دهغهٔ مشابه نشته.دهغهٔ دمصنوعاتونه هیڅ یوڅیزدچا په احاطه کښې نشته.هغه ډیر اوچت شان والا دې.دټول مخلوق نه جدادې.زمکه او آسمان هغهٔ لره نه شی راګیرولې . هغه احد اوصمددې.هغه دمخلوقاتو مثلیت نه پاك دې.

قوله تعالی:- یٰمُوْسٰۤی اِنَّهٗۤ اَنَا اللّٰهُ

موسی ﷺ ته دالله تعالی خطاب:- بیائی خبر ورکړو.چه پخپله الله تعالی هغهٔ سره خطاب کوی.هم هغه دا وخت کلام کوی چه په ټولوباندې غالب دې.ټول دهغهٔ ماتحت اودحکم لاندې دی.هغه په خپلو اقوالو او افعالوکښې حکمت والادې.ددې نه پس اللهﷻ حکم ورکړوچه ای موسیﷺ! چه خپله همسا دخپل لاس نه زمکه باندې اوغورزوه.چه ته ئې په خپلوسترګو اووینې.چه الله تعالی فاعل مختاردې.هغه په هرڅیز باندې قادردې.موسیﷺ ارشاد اوریدلوسره همسا په زمکه اوغورزوله.په دغه وخت یوحرکت کونکې مار جوړشو.اوډیر لوئې بدن والا مار، ویرونکې شکل والا،په دې غټ والی سره تیزتیز تلونکې.هغې لره ژوندې ګرځیدونکې زبردسته اژدها لیدلوسره حضرت موسیﷺ اویریدلو.د﴿جان﴾ لفظ په قرآن کریم کښې دې.دا یوقسم ماردې چه دا ډیرپه تیزئ سره حرکت کونکې اوچك لګونکې وی.

په یوحدیث کښې دی چه رسول کریمﷺ په کورونوکښې د اوسیدونکو داسې مارانو قتلولونه منع فرمائیلی ده(۴)غرض داچه حضرت موسیﷺ دهغې په لیدلو اویریدلو.اود ویرې نه ایسارنه شو.اومخ ئې واوړلو،شائې کړه اوتښتیدلو.دومره اویریدلوچه په شائې هم اونه کتل.دغه وخت اللهﷻ آواز ورکړو چه ای موسی اویریږه مه، زهٔ تالره خپل خوښ شوې رسول اوعزت والا پیغمبر جوړول غواړم.ددې نه پس

---

(۱) الطبری : ۴۲۸/۱۹.

(۲) الطبری : ۴۲۹/۱۹.

(۳) صحیح مسلم کتاب الایمان باب فی قوله علیه السلام ان الله لا ینام : ۱۷۹.

(۴) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب خیر مال المسلم غنم یتبع بها شغف الجبال.....: ۳۳۱۳.

Scanned with Ca

استثناء منقطع ده.پدې ایت کښې انسان دپاره ډیرلوئې عبرت دې.چه چاهم څه دګناه کارکړې وی. بیا هغه په هغې باندې پښیمانه شی.توبه اوباسی.الله ﷻ ته رجوع اوکړی.نوالله تعالی داسې توبه قبلوی. لکه چه په بل آیت کښې دی ﴿وَاِنِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ﴾ الخ،چه څوک هم توبه اوباسی اوایمان راوړی اونیک عمل اوکړی اوپه نیغه لار روان شی.زهٔ دهغهٔ ګناهونه معاف کونکې یم.او فرمان دې.﴿وَمَنْ یَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ یَظْلِمْ نَفْسَهٗ﴾ الخ څوک چه دیوې ګناه جرم اوکړی.یاځه ګناه اوکړی.بیا دالله تعالی نه بخښنه اوغواړی نو هغه به یقیناً الله تعالی بخښونکې او مهربانه بیاومومی.

ددې مضمون آیاتونه دالله تعالی په کلام کښې نورهم ډیرزیات دی.دهمسا نه د مار جوړیدلو معجزې سره کلیم الله ته بله مُعجزه ورکولې شی.چه تهٔ کله هم په خپل ګریوان کښې لاس دننه کړې او رابهرنې کړې.نوهغه به د سپورمئ په شان پرقیدونکې راوځی.دا معجزې دهغه نهه معجزو څینې دی.چه په هغې سره به زهٔ ستا په وخت وخت سره تائید کوم.چه فاسق فرعون او دهغهٔ د فاسق قوم په زړونوکښې ستا د نبوت ثبوت ځانې اونیسی. دا نهه معجزې هغه وې.دکوم ذکرچه ﴿وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسٰی تِسْعَ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ﴾ الخ کښې دې.ددې پوره تفسیرهم ددې آیت لاندې تیرشوې دې.

قوله تعالی:- فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ اٰیٰتُنَا مُبْصِرَةً

د فرعونیانو ضد اود معجزاتو نه انکار:- کله چه داواضحه،بښکاره صفااوګُهلاو معجزې فرعونیانوته اوخودلې شوې.نوهغوی په خپل ضدکښې راغلل وې وئیل.داخوجادو دې.مونږخپل جادوګرراغواړو. مقابله اوکړه. په دغه مقابله کښې الله ﷻ حق غالب کړو.اودا ټول خلق مغلوب شول.خوبیا ئې هم او نه منله. اګرچه په زړونوکښې ددې حقانیت ناست وو.لیکن ظاهری مقابله ئې پرې نخودله.صرف د ظلم او تکبر په بنیاد باندې ئې حق دروغ ګنړلو.اوس ته اوګوره چه ددې فاسقانو انجام څومره حیرت ناک او څومره عبرتناک شو.په یوځل ټول په ټوله دریاب کښې غرق شول.پس اې دنبی آخرالزمان ﷺ دروغژن ګنړونکوا تاسودې نبی ﷺ لره دروغ ګنړلوسره اطمینان سره مه کینئ.ځکه چه داخودموسی ﷺ نه هم اشرف او افضل دې.ددوی دلیلونه اومعجزې هم دهغوی ددلیلونواومعجزونه لوئې دی.پخپله ستاوجود،ستا عادتونه اواخلاق،اودتیروشوکتابونواددتیروشوپیغمبرانوستاباره کښې زیری دهغوی نه دالله وعده اولوظ باندې ټول څیزونه په تاکښې دی.پس ستاپه نه منلودې دوی نه مطمئن کیږی او بې ویرې کیږی دې نه.

وَلَقَدْ اٰتَیْنَا	دَاوٗدَ وَسُلَیْمٰنَ	عِلْمًا ۚ	وَقَالَا	الْحَمْدُ لِلّٰهِ
اوپه تحقیق سره ورکړې وو مونږه	داود او سلیمان ته	علم	اواووئیل دواړواچی ثناه ده الله لره		
داؤد ﷺ او سلیمان ﷺ ته ډیر لوئې علم ورکړو|اوهغوئ دواړو اووئیل چې ټول تعریفونه				
الَّذِیْ	فَضَّلَنَا	عَلٰی كَثِیْرٍ	مِّنْ عِبَادِهِ	الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۵﴾
هغه الله	چې فضیلت ئې راکړو مونږ لره	په ډیرو باندې	دبندګانو خپلو	مومنانونه		
الله ﷻ لره دی| چې مونږ ته ئې په خپلو ډیرو مومنانو بندګانو فضیلت راکړې دې				
وَوَرِثَ	سُلَیْمٰنُ	دَاوٗدَ	وَقَالَ	یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ	عُلِّمْنَا
او وارث شو	سلیمان	ددداود |اواوئیل هغه	اے خلقو	ښودلې شوی دی مونږ ته
او سلیمان ﷺ ،د داود ﷺ وارث شو| او دائې اووئیل چې ائې خلقو ! مونږ ته د مارغانو				

Scanned with Ca

مَنْطِقَ الطَّيْرِ	وَأُوْتِيْنَا	مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ؕ	اِنَّ هٰذَا	لَهُوَ
خبری (ژبې) دمارغانو	او راکړې شوی دی مونږ ته	هر قسم څیزونه	بیشکه دا	خامخا هم دا
ژبه خودلې شوې ده	اومونږ ته هرقسم څیزونه راکړې شوی دی	واقعی داهغه ښکاره		
الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾	وَحُشِرَ	لِسُلَيْمٰنَ	جُنُوْدُهٗ	مِنَ الْجِنِّ
فضل ښکاره دی	او راجمع کړې شوې	دپاره سلیمان	لښکرې دهغه	دپیریانو نه
فضل دی	اوسیلمان دپاره د پیریانو ، بنیادمو او مارغانو لښکرې راجمع کړې شوې			
وَالْاِنْسِ	وَالطَّيْرِ	فَهُمْ	يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۷﴾	حَتّٰۤى
او دانسانانونه	او دمارغانونه	پس هغه لښکرې به	په حفاظت سره ساتلې کیدې	تردې(چې یوځل)
او دوئ به	(دانتظام دپاره) ځائې په ځائې	اودرولې راودرولې شوا	تردې چې	
اِذَاۤ اَتَوْا	عَلٰى وَادِ النَّمْلِ ۙ	قَالَتْ نَمْلَةٌ	يّٰۤاَيُّهَا النَّمْلُ	
کله	ورغلل هغوئ	په میدان دمیږو باندې	نو اووئیل یو میږی	اے میږو
هغوئ دمیږو یو میدان ته	اورسیدل	نو یو میږئ اووئیل چې	اے میږو !	
ادْخُلُوْا	مَسٰكِنَكُمْ ۚ	لَا يَحْطِمَنَّكُمْ	سُلَيْمٰنُ	وَجُنُوْدُهٗ ۙ
ننوځئ	کورونو (سوړو) خپلو ته	چې چخړې نه کړی تاسو	سلیمان	او لښکرې دهغه
تاسو خپلو خپلو ځایونو ته ننوځئ	هسې نه سلیمان علیه السلام او دهغه لښکرې مو په بې			
وَهُمْ	لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۸﴾	فَتَبَسَّمَ	ضَاحِكًا	
او حال داچې هغوئ	به خبر هم نه وی	نو موسکې شو سلیمان	چې خندیدونکې وؤ	
خبرئ کښې چخړې نه کړی	نو سلیمان علیه السلام دهغې په خبره اوخندل	اودائې		
مِّنْ قَوْلِهَا	وَقَالَ	رَبِّ	اَوْزِعْنِيْۤ	اَنْ اَشْكُرَ
دوینا دهغه میږی نه	اووې وئیل	اے ربه زما	طاقت را کړې ماله	چې زه شکر ادا کړم
اووئیل چې ائې زما ربه ! ماهمیشه په داسې حال کښې اوساته	چې ستاد هغې انعامونو			
نِعْمَتَكَ	الَّتِيْۤ	اَنْعَمْتَ	عَلَيَّ	وَعَلٰى وَالِدَيَّ
دنعمت (احسان) ستا	هغه	چې کړې دی تا	په ماباندې	او په مور اوپلار زما باندې
شکر ادا کړم	چې تا ماباندې او زما په مور پلار باندې کړی دی			
وَاَنْ اَعْمَلَ	صَالِحًا	تَرْضٰىهُ	وَاَدْخِلْنِيْ	بِرَحْمَتِكَ
او چې عمل اوکړم زه	نیک	داسې چې ته خوښوی هغه	او داخل کړه ما	په رحمت خپل سره
او چې داسې نیکئ اوکړم	چې ته پرې خوشحاله شې	او ماپخپل رحمت سره په خپلو		

Scanned with Ca

فِيْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ ۝
په بندګانوخپلو کښې اچې صالحان دی ۔
نیکانوبندګانو کښې شامل کړه۔

قوله تعالی:- وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا

په حضرت داوٗد ﷺ اوحضرت ﷺباندې دالله تعالی احسانات:پدې آیاتونوکښې الله تعالی دهغه نعمتونوخبر ورکوی.کوم چه هغه په خپل بنده حضرت سلیمان اوحضرت داوٗدعلیهم السلام باندې انعامونه فرمائیلی وو.چه څنګه ئې د دواړو جهانونو دولتونه ورکړل.ددې نعمتونوسره ئې دخپل شکر ادا کولو توفیق هم ورکړې وو.دواړو پلار اوځوی به هروخت دالله تعالی په نعمتونو باندې دهغۀ شکراداکولو.د هغۀ تعریفونه به ئې بیانول.حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله لیکلی دی.چه کوم بنده ته الله تعالی کوم نعمتونه ورکړی اوپه هغې باندې هغه دالله تعالی حمد اوکړی.نودهغۀ حمد ددې نعمتونونه ډیر افضل دی.اوګورئ اګرچه په کتاب الله کښې دا نکته موجود ده.بیائې هم دا آیت اولیکلو.اووې لیکل چه دې دواړو پیغمبرانوته کوم نعمت ورکړې شوې وو.دهغې نه افضل به بل کوم نعمت وی.دحضرت داوٗد ﷺ د وارث حضرت سلیمان ﷺ نوم به هم نه راتلې.ځکه چه دحضرت داوٗد ﷺ سل بیبیانې وې.د انبیاؤ د مال میراث نه تقسیمږی.لکه چه دسیدالانبیاء ﷺ ارشاد دی.چه مونږ دانبیاؤ جماعت یو.زمونږ میراث نه تقسیمږی.مونږچه څه پریږدو.هغه صدقه دی(۱)سلیمان ﷺ دالله تعالی نعمتونه یادوی.فرمائی دا پوره ملك اودا زبردست طاقت چه انسانان، جنات، مارغان ټول ئې دفرمان تابع دی.د مارغانوپه ژبه هم پوهیږی.داخاص دالله تعالی فضل وکرم دی.چه داپه هیڅ انسان باندې نه دې شوې.

قوله تعالی:- عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ

د مارغانود انسانانو پشان خبرې کول بې بنیاده خبره ده:-بعضې جاهلانو وئیلی دی چه هغه وخت به مارغانوهم دانسانانوپه شان خبرې کولې.داخالص ددوی بې علمی ده.پوهه شئ که چرې واقعی هم دا خبره وې نوبیا په دې کښې دحضرت سلیمان ﷺ څه خصوصیت وو؟ چه دې لره هغوی په دې فخرسره بیانوی.چه مونږته دمارغانو ژبه اوښودلې شوه.بیاخوبه هرسړی دمارغانو په خبروپوهیدلې.اود حضرت سلیمان ﷺ خصوصیت به ختم شوې وې.داخالص غلط دی.د مارغانوپه ژبه به پوهیدلو.ورسره دانعمت هم حاصل شوې وو.چه په یوبادشاهت کښې دکومو څیزونو ضرورت وی.ټول حضرت سلیمان ﷺ ته قدرت ورکړی وو.داپه هغوی باندې دالله تعالی ښکاره احسان وو.

د داوٗد ﷺ د غیرت او مرګ بیان:-په مسند امام احمد رحمه الله کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی حضرت داوٗد ﷺ ډیر غیرت والاوو.کله چه به هغوی دکورنه بهر وتل.نو دروازې به ئې بندولې.بیابه هیڅاته دننه دتلو اجازت نه وو.یوځل هغوی دغه شان بهرته تلی وو.لږوخت پس د یوې بې بې صاحبې نظر پورته شو.نووې کتل چه دکورپه مینځ کښې یوصاحب ولاړدې.حیرانه شوه، او نوروته ئې اوښودلو.خپل مینځ کښې ټولو اوونیل.دې دکوم ځائې نه راغې؟ دروازې بند دی.دې داخل څنګه شو؟ په الله تعالی قسم! حضرت داوٗد ﷺ هم راغې.هغوی هم هغه ولاړ اولیدلو. او تپوس ئې تړې اوکړو.چه ته څوك یې؟ هغه جواب ورکړو.زۀ هغه چالره چه دروازه اوځوك نه شی منع کولې،څوك چه د لوئې نه لوئې هیڅ پرواه نه کوی.حضرت داوٗد ﷺ پوهه شو. اووې فرمائیل.مرحبا (په خیر راغلې) دې وی مرحبا دې وی ته ملك الموت یې.دغه وخت ملك الموت دهغۀ روح قبض کړو.نمر راوختلو.اوپه هغۀ باندې دهوپ راغې. نو حضرت سلیمان ﷺ مارغانوته حکم ورکړو.چه هغوی په حضرت داوٗد ﷺ باندې سورې جوړکړی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب فرض الخمس باب فرض الخمس: ۳۰۹٤. صحیح مسلم: ۱۷۵۷.

Scanned with Ca

هغوی خپلې وزرې کھلاو کړلې.داسې ګڼې سورې ئې جوړکړه.چه په زمکه باندې تیارۀ شان جوړه شوه.بیائې حکم ورکړو.چه په یوه یوه باندې خپلې ټولې وزرې راټولې کړئ.حضرت ابوهریره﷿ تپوس اوکړو.اې دالله رسولهﷺ! مارغانوبیا داځنګه راټولې کړې؟ نبیﷺ اوفرمائیل.خپل لاسونه ئې راټول کړل وې خودل چه داسې.په هغۀ باندې دغه ورځ سور رنګ مارغان غالب راغلی وو(۱).

قوله تعالی:- حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا عَلٰى وَادِ النَّمْلِ

د سلیمانﷺ په میږو تیریدل او د میږی خپلو میږو ته هدایت:- دحضرت سلیمانﷺ لښکرجمع شو.چه په هغې کښې انسانان،جنات مارغان ټول وو.دهغوی په سرونو به اوسیدل.په ګرمئ کښې به ئې پرې سورې کول.ټول په خپله خپله مرتبه باندې قائم وو.دچا چه کوم ځائې مقرر وو.هلته اوسیدل.کله چه دې لښکرو سره حضرت سلیمانﷺ روان شو.په یوځنګل تیریدل.چه هلته یو میږی نورو میږوته اووئیل.چه لاړشئ خپلو خپلو سوړوته ننوځئ.چرته داسې اونه شې چه د سلیمانﷺ لښکر روان وی.او تاسو دخپو لاندې کړی.اوهغوی ته پته هم نه وی.حضرت حسن﷿ فرمائی.چه ددغه میږی نوم هرس وو.داد بنو شیصان قبیلې نه وو.ګوډهم وو.دلیوۀ قدکښې وو.هغۀ ته وِیره شوه.چه دوی ټول به دخپو لاندې راشی.او چخړی به شی.په دې اوریدوسره حضرت سلیمانﷺ مسکې شو.وې خندل.اوهم دغه وخت ئې دالله تعالی نه دعا اوغوښتله.چه اې الله! ماته دخپلو هغې نعمتونو شکریه اداکولو الهام اوکړې.کوم انعامونه چه تاپه ماکړی دی.مثلاً د مارغانو اوځناورو ژبه ښودل وغیره، اوهغه نعمتونه کوم چه تا زما په مورپلارباندې کړی دی.چه هغوی مسلمانان مؤمنان شول وغیره،اوماته دې دنیک عمل توفیق راکړو.چه په هغې سره ته خوشحاله شوې.اوکله چه زما مرګ راشی نوما په خپلو نیکوبندګانو او اوچتو ملګروکښې ملاوکړې.کوم چه ستا دوستان دی.دمفسرینو قول دې.چه اصل کښې لفظ د ذُباب وی یعنی د مچ برابر،اود کاتب نه غلطئ سره ذباب لیکلی شوې وی یعنی لیوۀ.حضرت سیلمانﷺ چونکه دځناورو په خبرو پوهیدلو.نوپه دې خبره هم پوهه شو.اوبې اختیاره خندا ورغله.

په ابن ابی حاتم کښې دی چه یوځل حضرت سلیمانﷺ استسقاء دپاره اووتلو.نو وې لیدل چه یو میږی الته ملاست دې.خپلې خپې ئې آسمان طرف ته اوچتې کړی دی دعا کوی.چه اې الله! مونږهم ستا مخلوق یو.د اوبو ورولو محتاج مونږهم یو.که باران اونه شو. نو مونږبه هلاک شو.د میږی دا دعائې چه واوریدله.نوهغوی په خلقوکښې اعلان اوکړو.چه واپس شئ.دبل چا په دعا سره تاسوته اوبه درکړې شوې.نبی کریمﷺ فرمائی.چه په نبیانو کښې په یونبی یومیږی چک اولګولو.هغوی د میږیانوپه سوړه کښې د اورلګولوحکم ورکړو.دغه وخت دالله تعالی دطرفه وحی راغله.چه اې پیغمبر! صرف د یومیږی په چک لګولوباندې تا یوه لویه ډله چه هغوی زما تسبیح وئیلې.هلاک دې کړل.که تا خامخا بدله اخستل غوښتل،نوهم دهغې نه به دې اخستې وې.(۲)

وَتَفَقَّدَ	الطَّيْرَ	فَقَالَ	مَا لِيَ	
اولټول اوکړل هغه	دمارغانو	انووې وئیل	اځه وجه ده مالره	
او سلیمانﷺ دمارغانو حاضری واخسته			نو وې وئیل	
لَآ اَرَى	الْهُدْهُدَ	اَمْ كَانَ	مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ۝	لَاُعَذِّبَنَّهٗ
چې نۀ وینم زۀ	هدهد (مارغه)	او که دې هغه	دغائب شوۀ نه	زۀ به خامخا سزا ورکوم هغه له
چې داځه وجه ده چې زه هدهد نه وینم		یا هغه غائب شوې دې ؟	زۀ به هغه ته ډیره سخته	

---

۱) احمد: ۴۱۹/۲، وسنده ضعیف ،

۲) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب اذا وقع الذباب فی شراب احدکم .....: ۳۳۱۹. صحیح مسلم: ۲۲۴۱.

Scanned with Ca

عَذَابًا شَدِيدًا	أَوْ لَأَاذْبَحَنَّهُ	أَوْ لَيَأْتِيَنِّي	بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٢١﴾
سزا سخته	یا به خامخا ذبح کوم هغه	یا به راوړی ماته	دلیل ښکاره (مناسبه وجه)
سزا ورکړم	یا به ئې حلال کړم	او یا به ماته (دخپلې غیرحاضرئ) کلک دلیل پیش کړی	

قوله تعالی:-وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ

د سلیمان علیه السلام دمارغانوحاضری اخستل: هُدهُد (ملاچرجك) دسلیمان علیه السلام په فوج کښې دمهندس کار کولو هغه به خودل چه اوبه چرته دی؟ په زمکه کښې دننه اوبه به هغه ته داسې په نظر راتلې لکه څنګه چه د زمکې پورته څیزونه خلقوته په نظر راځی.کله چه به سلیمان علیه السلام په څنګل کښې وو.دهغه نه به ئې تپوس کولوچه اوبه چرته دی؟هغه به خودل چه فلانی ځائې کښې دی دومره لاندې دی،دومره دی وغیره. حضرت سلیمان علیه السلام به هغه وخت جناتوته حکم ورکولو.اوکوهې به ئې کنستلو. یوه ورځ دغه شان په څنګل کښې وو.دمارغانوحاضری ئې واخستله.چه د اوبوتلاش کولوحکم ورکړی.اتفاق سره هغه موجودنه وو.په دې باندې هغوی اوفرمائیل.نن هُدهُد په نظرنه راځی.آیا په مارغانوکښې چرته پټ شو چه ماته په نظرنه راځی یا په واقع کښې هغه حاضرنه دې؟

دیوخارجی اعتراض او د ابن عباس رضی الله عنه جواب:- یوځل دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه په دې تفسیر اوریدلوسره نافع بن ازرق خارجی اعتراض کړې وو.دې بکواسی به هروخت دحضرت عبدالله رضی الله عنه په خبروباندې بې ځایه اعتراض کولو.وې وئیل نن خوتا اوبائیله.حضرت عبدالله رضی الله عنه اوفرمائیل ولې؟ هغه اووئیل تاسوچه دا فرمایئ چه هدهد په زمکه کښې لاندې اوبه وینې.داځنګه صحیح کیدې شی. حالانکه چه یوماشوم جال خورکړی په خاوره ئې پټ کړی.دانه واچوی هُدهُد ښکارکوی.که هغه په زمکه کښې دننه اوبه وینی.نود زمکې دپاسه جال هغه ته ولې په نظرنه راځی.هغوی اوفرمائیل.کچرې زما داخیال نه وې چه ته به دااوګنړې چه ابن عباس رضی الله عنه لاجوابه شو.نوماته دجواب ضرورت نه وو.واوره! کله چه قضا راشی سترګې رندې شې اوعقل لاړشی.نافع لاجوابه شو.اووې وئیل په الله ﷻ قسم!اوس به زه په تاباندې اعتراض نه کوم.(۱)

یوه حیران کن واقعه:- حضرت عبدالله برزی رحمه الله یو ولی الله سړې وو.د ګل او زیارت روژه به ئې پابندئ سره نیوله.اتیا کاله عمرئې وو.په یوه سترګه کانړاوو.سلیمان بن زید دهغه نه دسترګې تللو سبب معلوم کړو.نوهغه ددې وئیلونه انکاراوکړو.دې هم ورپسې اولګیده.میاشتې تیرې شوې.نه به ورته هغه ښودل نه به دهٔ تپوس پریخودلو.آخرتنګ شو.وې فرمائیل واوره! دوه خراسان والا زما خواته برزه کښې چه دا دمشق سره یوښاردې راغلل.اوماته ئې اووئیل.چه زهٔ هغوی د برزې وادئ ته بوځم.ماهغوی هلته بوتلل.انګیتئ ئې ښوداویستلې.عود ئې راویستل او سوزول ئې شروع کړل.تردې چه ټوله وادی خوشبوداره شوه.اود هرطرفه ماران راتلل شروع شو.لیکن هغوی بې پرواهئ سره ناست وو.هیڅ یومار طرف ته ئې توجهنه کوله لږوخت پس یومارراغې.چه دلاس برابروو.اودهغه سترګې د سرو زروپه شان پرقیدلې.دوی ډیر خوشحاله شول.اووې وئیل.دالله ﷻ شکردې چه زمونږ دټول کال محنت په ځائې شو هغوی دغه ماروا خستلودهغه په سترګوکښې ئې سلائی راښکله بیائې خپلو سترګوکښې هغه سلائی راښکله .ما هغوی ته اووئیل.چه زما په سترګوکښې هم دا سلائی راکاړئ.هغوی انکار اوکړو.ما هغوی ته ډیرمنت اوکړو.مشکل سره هغوی راضی شول.او زما په ښئ سترګه کښې ئې هغه سلائی راښکله. اوس چه ما اوکتل نوزمکه ماته د یوې شیشې پشان معلومه شوه.لکه څنګه چه پورته څیزونه په نظر راتلل.دغه شان مې په زمکه کښې دننه څیزونه هم لیدل.هغوی ماته اووئیل.چه ښه اوس ته مونږسره لږ لرې

---

(۱) حاکم : ۴۰۵/۲،

Scanned with Ca

لارشه.مامنظورکړله.هغوی خبرې کولې اوزهٔ ئې دخان سره بوتلم.کله چه زهٔ دکلی نه ډیرلرې اووتلم.نودواړوزهٔ ددواړوطرف نه اونیولم.اویوکس خپلې کوتې سره زما سترګه ویستله.اووې غورزوله. او زهٔ دغه شان ترلې شوې هلته اوغورزولم،هغوی دواړه چرته لاړل.اتفاق سره هلته یوه قافله تیریدله. او هغوی زهٔ په دې حالت کښې اولیدم.په مائې ترس اوخوړلو،د قید اوترلونه ئې آزادکړم.او راغلم.دا زما د سترګې تللو قصه ده.(ابن عساکر)

قوله تعالی:-لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا

د سلیمان ﷺ د هدهد باره کښې تنبیه:- دحضرت سلیمان ﷺ ددې هُدهُد نوم عنبروو.هغوی فرمانی.چه که په ربښتیاهغه غیرحاضردې.نوزهٔ به هغه ته سخته سزاورکړم.دهغهٔ وزرې به اوباسم.اوهغه به اوغورزوم چه چینجی مینجی ئې اوخوری.یابه ئې زه حلال کړم.یا داچه هغه دخپلې غیرحاضرئ معقوله وجه بیان کړی.په دې کښې هدهد راغې.ځناوروهغهٔ ته خبر ورکړو.چه نن ستا خیرنشته.بادشاه سلامت وعده کړې ده.چه هغه به تا وژنی.هغهٔ اووئیل دا بیان کړئ چه دهغهٔ الفاظ څه وو؟ هغوی بیان کړل.نوخوشحاله شو اووې وئیل.بیا خوبه زهٔ بچ شم.حضرت مجاهد رحمۃ اللہ علیہ فرمائی.چه دهغهٔ ددې بچ کیدلو وجه دهغهٔ خپلې مورسره سلوک وو.

فَمَكَثَ	غَيْرَ بَعِيدٍ	فَقَالَ	أَحَطتُ	بِمَا
پس وخت تیر کړو هغه	ډیر نهٔ (بلکه زر راغې)	نو وې وئیل	چې احاطه اوکړه ما	په هغه څیز
نولږ ساعت تیر نه وو چې هغه راغلو	نو دائې اووئیل چې مایوداسې خبره معلومه کړې ده			

لَمْ تُحِطْ	بِهِۦ	وَجِئْتُكَ	مِن سَبَإٍ	بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾
چې نهٔ ده احاطه کړې تا	په هغې باندې	او راغلې یم زهٔ تاته	دسبانه	دخبر یقینی سره
چې تاسوته هم نه ده معلومه	اوما درته دسبا (دقبیلې) نه یو یقینی خبر راوړې دې			

إِنِّى	وَجَدتُّ	ٱمْرَأَةً	تَمْلِكُهُمْ
بیشکه زهٔ چې یم	او موندله ما	یوه ښځه	چې بادشاهی (حکمرانی) کوی دهغوئ
مایوه ښځه اولیده چې په هغوئ باندې حکومت کوی	اوهغې ته		

وَأُوتِيَتْ	مِن كُلِّ شَىْءٍ	وَلَهَا	عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾	وَجَدتُّهَا
او ورکړې شوی دی هغې ته	دهر څیزنه	او هغې لره	تخت لوئ دې	ما اوموندله هغه
هر قسم اسباب ورکړې شوی دی	اودهغې(دناستې) تخت ډیر لوئې دې			ما هغه او

وَقَوْمَهَا	يَسْجُدُونَ	لِلشَّمْسِ	مِن دُونِ ٱللَّهِ	وَزَيَّنَ
او قوم دهغې	چې سجدې کوی	نمر ته	په ځائې دالله	اوښائیسته ښکاره کړل
دهغې قوم اولیدو	چې دالله ﷻ نه بغیر نمر ته سجدې کوی			اوشیطان

لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ	أَعْمَٰلَهُمْ	فَصَدَّهُمْ	عَنِ ٱلسَّبِيلِ	فَهُمْ
هغوئ ته شیطان	عملونه دهغوئ	انو منع ئې کړل هغوئ	دلارې نه	پس هغوئ
هغوی ته داعملونه ښائسته کړې دی	نودسمې لارې نه ئې منع کړی دی			نو هغوی اوس

Scanned with Ca

لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۲۵﴾ اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ
نیغه لار نه مومی| ولې نه کوی سجده	الله ته	هغه الله ته| چې رااوباسي	پټ څیزونه	
په نیغه لار نه روانیږی| هغه دا چې الله ﷻ ته سجدې نه کوی |چې د آسمان او
فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ
په اسمانونو کښې	او په زمکه کښې	او معلوم دی هغه ته	هر هغه څه	چې تاسو ئې پټوئ	
زمکې پټ څیزونه بهر راوباسی	اوڅه چې تاسو پټوئ او څه چې ښکاره کوئی	په
وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿۲۶﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ
او هغه څه	چې تاسو ئې ښکاره کوئ	الله چې دی	نشته دې لائق دعبادت	مګر	هغه
هغې ټولو خبر دې|(واورئی) هم الله ﷻ هغه ذات دې دکوم نه سوا چې بل معبود نشته دې
رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۶﴾
چې رب دی	دعرش لوئ	
دعرش عظیم رب دې	

قوله تعالی:-فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ

دهدهد ملکه سبا متعلق اطلاع ورکول:-دهُدهُد دغیرحاضرئ لږشان وخت تیرشوې وو.چه هغه راغې.هغۀ اووئیل اې دالله نبی! دکومې خبرې چه تاته خبرهم نشته مادهغې یو نوې خبر راوړلې اوتاته حاضرشوې یم.زه دسبانه راغلې یم.اوپوخ یقینی خبرمې راوړلې دی.داسبا حمیروو چه دیمن بادشاهان وو.یوې ښځې دهغوی بادشاهت کولو.دهغې نوم بلقیس بنت شراحیل وو.داد سبا ملکه وه (۱).قتادهؒ فرمائی چه ددې مور جنی ښځه وه.دهغې دخپو شاته حصه دڅاروی د نوك په شان وه.

په بل روایت کښې دی چه دهغې دمورنوم بلته وو.ابن جریجؒ فرمائی چه دهغې د پلارنوم ذی شرخ وو.اودمورنوم ئې بلتعه وو.په لکهونودهغې لښکرې وې.دهغوی بادشاهی کونکې یوه ښځه ما بیا مونډله.دهغې مشیر او وزیران درې سوه دولس سړی وو.په هغوی کښې دهریو ماتحت دولس زره جماعت وو.دهغې د زمکې نوم مارب دې.داد صنعاء نه درې میله فاصله باندې دې.هم دا قول قیاس ته نزدې دې.(ددې اکثرحصه د یمن په ملکیت کښې دې.والله اعلم)

قوله تعالی:-وَاُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَّلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾

د بلقیس تخت او سازوسامان:-دنیاوی ضروری هرقسم اسباب هغې ته ملاودې.دهغې ډیربنائسته تخت دې.چه په هغې باندې هغه ناسته کوی.د سرو زرونه جوړدې.اودجواهراتو نه ډک دی اود مروارید کاریګری په هغې باندې شوې ده.دا اتیا لاسه اوچت وو،اوڅلویښت لاسه پلن وو.شپږسوه ښځې به هر وخت دهغې په خدمت کښې تیارې ولاړې وې.دهغې خاص دفترچه په هغې کښې دا تخت وو.ډیر لوئې محل وو.ډیر اوچت،کُهلاو، فراخه پوخ، مضبوط اوصفاوو.چه دهغې په مشرقی حصه کښې درې سوه شپیته روشندانه وو.او دغومره په مغربی حصه کښې هم وو. هغه ئې په داسې طریقه جوړکړی وو.چه روزانه به نمرپه یو روشندان راوتلو.اوهم دهغې مقابل روشندان کښې به پریوتلو.دربار والویه سحر او

(۱) الدرالمنثور: ۳۵۱/۶.

Scanned with Ca

مابنام هغې ته سجده کوله.غټان او مشران ، دشاهی محل استوګن ټول افتاب پرست وو.دالله تعالی عبادت کونکې په هغوی کښې یوهم نه وو.شیطان ګناهونه هغوی ته ښه ښکاره کړی وو.اوهغوی ئې بې لارې کړی وو.اوپه نیغه لاره هغوی نه راتلل.نیغه لاره داده چه صرف دالله تعالی ذات دسجدې لائق اومنلې شی.نمر اوسپوږمئ او ستوری اونه ګنړلې شی.لکه څنګه چه قرآن کښې فرمان دی.چه شپه ورځ،نمرسپوږمئ ټول دالله ﷻ دقدرت نخښې دی.تاسوله نمرسپوږمئ ته سجده کول پکارنه دی.سجده صرف هغې الله ﷻ ته کول پکاردی.چه هغه ددې ټولوخالق دې.تراخره پورې،د ﴿اَلَّا یَسْجُدُوْا﴾ یوقراءت ﴿اَلَا یَسْجُدُوْا﴾هم دی.د((یَا)) نه پس منادی محذوف ده.یعنی ای زما قومه! خبردار سجده به صرف دالله تعالی کوئ.چه هغه دآسمان اوزمکې دهریوپټ څیزنه خبرداردې.د ﴿خَبْءَ﴾ تفسیر اوبو، باران اوپیداوار سره هم شوې دې.کیدې شی چه دهدهد په دې کښې داصفت وو،هم دا مرادوی.او ستا پټ اوښکاره کار باندې هم هغه پوهیږی.ښکاره اوپټه خبره هغۀ ته یوشان ده.هم هغه یواځې حق معبود دې.هم هغه د عرش عظیم رب دې.چه دهغۀ نه لوئې هیڅ څیزنشته.چونکه هدهد خیرطرف ته رابلونکې،دالله تعالی د عبادت حکم ورکونکې،دهغۀ نه سوا دغیر سجدې نه منع کونکې وو.په دې وجه دهغۀ دقتل ممانعت اوکړې شو.په مسنداحمد ،ابوداؤد ،ابن ماجه کښې دی چه نبی ﷺ دځلورو څناورو دقتل نه منع فرمائیلې ده.د میږی،د شهدو دمچئ،د هدهد او صرد. (۱)

قَالَ	سَنَنْظُرُ	اَصَدَقْتَ	
اووئیل سلیمان	چی ګورو به مونږه	چی آیا ربښتیا ویلی دی تا	
اسلیمان ﷺ اوفرمائیل چې مونږ به ددې خبرې تحقیق کوو		چې ته ربښتیا	
اَمْ كُنْتَ	مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝	اِذْهَبْ	بِّكِتٰبِيْ هٰذَا فَاَلْقِهْ
یا ئې ته	ددروغژنانونه	لاړ شه	دخط زما سره چی دادې اووې غورزوه
وائې	که ته دروغژن یئ	.....لاړ شه او زما دا خط یوسه	انو هغوئ ته ئې اوغورزوه
اِلَيْهِمْ	ثُمَّ تَوَلَّ	عَنْهُمْ	فَانْظُرْ مَاذَا يَرْجِعُوْنَ ۝
هغوئ ته	بیا	یو اړخ ته شه	دهغوئ نه
بیا ترې نه یو اړخ ته شه		نو ګوره چې هغوئ څۀ جواب درکوی	
پس اوګوره		چې څه جواب ورکوی هغوئ	
چې خط ورته ملاوشو			
قَالَتْ	يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا	اِنِّيْٓ	اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ۝
اووئیل بادشهې	اے درباریانو	بیشکه زۀ چې یم	راغورزولې شوې دې
ماته	یو خط عزتمند		
نو ملکه سبا، اووئیل چې ائې زما درباریانو		ماته خو یو قیمتی خط راغورزولې شوې دې	
اِنَّهٗ	مِنْ سُلَيْمٰنَ	وَاِنَّهٗ	بِسْمِ اللّٰهِ
بیشکه دا خط	دسلیمان دطرفنه دی	او بیشکه دا خط	شروع شوې دې دنوم دالله نه
دا د سلیمان ﷺ د طرفنه دې		اودائې لیکلی دی چې بسم الله	

(۱) احمد: ۳۳۲/۱. ابوداود: کتاب الادب باب ل قتل اللر : ۵۲۶۷.

Scanned with Ca

الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيْمِ ﴿۳۰﴾	اَلَّا تَعْلُوْا	عَلَيَّ	وَاْتُوْنِيْ
چې ببنونکې	امهربانه دې	چې سرکشئ (لوئې) مه کوئ	په ماباندې	او راشئ ماته
الرحمان الرحيم	تاسو زما په مقابله کښې سرکشی مه کوئی			او تابعدار راته
مُسْلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾				
په حال دمسلمانئ کښی				
حاضر شئ				

قوله تعالى:- قَالَ سَنَنْظُرُ اَصَدَقْتَ

دحضرت سليمان عليه السلام دملكه سبا په نوم خط:- دهُدهُد خبر اوريدلوسره حضرت سليمان عليه السلام ددې تحقيق شروع کړو.چه که دا رښتونې دې.نوقابل دمعافئ دې.اوکه دروغژن دې نوقابل د سزادې.خکه نې اوفرمانيل. چه دا خط بلقيس ته کومه چه هلته حکم چلونکې ده، ورکړه.هُدهُد داخط په خُله کښې اونيولو،يائې په وزر پورې اوترلو او والوتلو.هلته چه اورسيدلو دبلقيس محل ته لاړلو.هغه دغه وخت په خلوت خانه کښې وه.هغۀ د يو روشندان نه دا خط دهغې مخې ته کيخودلو.او ادب سره يوطرف ته شو.هغې ته سخت تعجب معلوم شو.حيرانه شوه.او ورسره څه ويره هم شوه.خط ئې اوچت کړو.مهرئې مات کړو.خط نې کُهلاوکړو.وې لوستلو.دهغې دمضمون نه خبر شوه.خپل وزيران،اميران، سرداران،اومشران نې جمع کړل.اووې وئيل.چه يو عزت ناک خط زما مخې ته غورزولې شوې دې.ددې خط عزت ناک کيدل په هغې باندې ددې نه هم ښکاره شوی وو.چه يوځناور داراوړلو.هغې هوښيارتيا اواحتياط سره راو رسولو.مخې ته ئې په ادب سره کيخودلو اويوطرف ته شو.نو پوهه شوه.چه دا خط عزت ناک دې.اود يو عزت ناک سړی رالېږلې شوې دې.بيائې دخط مضمون تولوته واورولو.چه دا خط دحضرت سليمان عليه السلام دې.اوددې په شروع کښې ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ ليکلی شوی دی. ورسره دمسلمانيدلو او تابعدار جوړيدلو دعوت دې.اوس تولو اوپيژندلو.چه دا دالله تعالى د پيغمبر دعوت نامه ده.اوپه مونږ کښې په چا کښې هم دهغوی دمقابلې وس اوطاقت نشته. بيادخط بلاغت،اختصاراووضاحت تول حيران کړل. چه دا مختصرشان عبارت د ډيرو خبرونه زيات دې.درياب نې په کوزه کښې بندکړې دی.د علماء کراموويناده.چه د سليمان عليه السلام نه مخکښې چاهم په خط کښې بسم الله الرحمن الرحيم نه ده ليکلې. يوغريب اوضعيف حديث په ابن ابی حاتم کښې دې.حضرت بريده رضي الله عنه فرمائی چه زهٔ نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره روان ووم.چه هغوی اوفرمانيل.چه ماته يو داسې آيت معلوم دې.چه هغه زما نه مخکښې دسليمان عليه السلام بن داوٗد نه پس په هيڅ يونبی باندې نه دې نازل شوې.ما اووئيل.اې نبی صلی الله عليه وسلم! هغه کوم آيت دې؟ نبی عليه السلام اوفرمانيل.جمات ته دتلونه مخکښې به نې زهٔ تاته اوښايم.اوس نبی عليه السلام اووتلو.يوه خپه نې هم دجمات نه بهر کيخوده.زما په زړهٔ کښې راغلل.چه شايد دنبی صلی الله عليه وسلم نه هيرشول.په دې کښې نبی صلی الله عليه وسلم دا آيت اولوستلو په بل روايت کښې دی چه ترڅو پورې دا آيت نه وو نازل شوې.نبی کريم صلی الله عليه وسلم به ((بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ)) ليکلو.کله چه دا آيت نازل شو.نبی صلی الله عليه وسلم ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ ليکل شروع کړل.دخط مضمون صرف دومره قدرې وو.چه زماپه مخکښې سرکشی مه کوه.ما مه مجبوروه.زما خبره اومنه.دتکبرنه کارمه اخله.مؤحد، مخلص، مطيع جوړه شه ماته راشه.([1])

---

[1]) الطبری : ۴۵۳/۱۹.

Scanned with Ca

قَالَتْ	يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا	اَفْتُوْنِيْ	فِيْٓ اَمْرِيْ ۚ		
اووئيل بادشهي	اے سردارانو	فتوی (مشوره) راکړئ ماله	په کار زما		
هغې اووئيل چې ائې زما درباريانو	ماته په دې باره کښې رائې راکړئ				
مَا كُنْتُ قَاطِعَةً	اَمْرًا	حَتّٰى	تَشْهَدُوْنِ ۝	قَالُوْا	نَحْنُ
نه يم زۀ فيصله کونکی	ديوکار	تر هغې پورې	چې حاضر شئ تاسو	اووئيل هغوئ	مونږه
زه د هيڅ خبرې خلاصه فيصله تر هغې وخت پورې نه شم کولې	ترڅوچې تاسو حاضر نه ئې				
اُولُوْا قُوَّةٍ	وَّاُولُوْا	بَاْسٍ شَدِيْدٍ ۙ	وَّالْاَمْرُ	اِلَيْكِ	فَانْظُرِيْ
خاوندان دقوت يو	او خاوندان	دجنګ سخت يو	او حکم (اختيار)	تاته دې	پس اوګوره تۀ
هغوئ اووئيل مونږ ډير زور آور	او جنګيالی يو	او نور ستا اختيار دې نو ته په خپله			
مَاذَا	تَاْمُرِيْنَ ۝	قَالَتْ	اِنَّ الْمُلُوْكَ	اِذَا دَخَلُوْا	قَرْيَةً
چې څه حکم کوې ته	اووئيل هغې	چې بيشکه بادشاهان	کله چې ننوزی	يو کلی ته	
اوګوره چې مونږ ته څه حکم راکول غواړې	هغې اووئيل چې څه وخت بادشاهان يو کلی				
اَفْسَدُوْهَا	وَجَعَلُوْٓا	اَعِزَّةَ اَهْلِهَآ	اَذِلَّةً ۚ	وَكَذٰلِكَ	
نو خرابوی هغوئ هغه کلی	او جوړوی	عزتمند خلق دهغې	ذليلان	او همدارنګې	
ته ننوخې	نوهغه تباه کوی	اودهغه ځائې معزز خلق	بې عزته کوی	او دغه شان	
يَفْعَلُوْنَ ۝	وَاِنِّيْ	مُرْسِلَةٌ	اِلَيْهِمْ	بِهَدِيَّةٍ	فَنٰظِرَةٌ
کارونه کوی هغوئ	او بيشکه زۀ	ليږونکی يم	هغوئ ته	څه تحفې	بيا کتونکی يم زۀ
به هغوئ هم کوی	او زۀ ورته څه سوغات ليږم	نو ګورم چې زما سفيران			
بِمَ	يَرْجِعُ	الْمُرْسَلُوْنَ ۝			
چې دڅه جواب سره	واپس راځی	استاذی زما			
څه خبر راوړی					

قوله تعالی:- قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اِنِّيْٓ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ۝

د بلقيس وزيرانو سره مشوره او دهغوب جواب:- بلقيس دحضرت سليمان عليه السلام خط هغوی ته واورولو.دهغوی نه ئې مشوره اوغوښتله.اووې ونيل.چه تاسوته معلومه ده.چه ترڅو پورې تاسوسره زۀ مشوره اونه کړم.اوتاسو موجودنه يئ.زۀ ديوکارفيصله يواځې نه کوم.په دې باره کښې هم ستاسونه مشوره غواړم. اووايئ چه ستاسوڅه رائې ده؟ټول په اتفاق سره جواب ورکړو.وې ونيل چه زمونږ جنګی طاقت ډير زيات دې.او زمونږ طاقت منلې شوې دې.ددې طرفه خو اطمينان دې.مخکښې چه ستاسو څه حکم وی مونږ تابعداری دپاره موجود يو.په دې کښې يوحده پورې دلښکر سردارانو جنګ او مقابلې طرف ته ترغيب ورکړې وو.ليکن بلقيس چونکه هوښياره وه.په انجام پوهيدله.اود هُدهُد په لاسونو دخط ملاويدلويوه ښکاره معجزه ئې ليدلې وه.دائې هم معلومه کړې وه.چه دحضرت سليمان عليه السلام دطاقت په مقابله کښې زما لښکرهيڅ حقيقت نه لری.که د جنګ نوبت راغې.نود ملک بربادیدلونه علاوه به زۀ هم ژوندئ پاتې نه شم.په دې وجه هغې خپلو وزيرانو او مشيرانوته اووئيل.د بادشاهانو قاعده ده.چه

Scanned with Ca

کله هغوی یوملك فتح کوی.نوهغه بربادوی.دهغه ځائي عزت والاخلق ذلیل کوی.دلښکر سردارانو د ښاربادشاهان خصوصیت سره دهغوی په نظرکښي وی.الله ﷻ په مادديي تصدیق اوکړو.چه یقینا دا صحیح دي.هغوی به دغه شان کول.ددي نه پس چه هغي کوم تدبیربانديي سوچ کړي وو.چه یوچال اوکړی.اوحضرت سلیمان علیه السلام سره موافقت اوکړی اوصلح اوکړی.

حضرت سلیمان علیه السلام دپاره دبلقیس تحفه :-هغي هغه دهغوی په مخکښي پیش کړو.چه داوخت خوزا یوه ډیره قیمتی تحفه هغوی ته لیږم.چه ددي نه پس زما قاصدانوته هغوی څه فرمائی؟ ډیره ممکن ده.چه هغوی داقبوله کړی.اومونږ بیا دپاره هم هغوی ته دارقم دجزیي په طورلیږو.اوهغوی ته په مونږ باندي دحملي کولو ضرورت پیښ نه شی.په اسلام قبلولوکښي دغه شان هغي په دي هدیي لیږلو کښي ډیرد هوښیارتیا نه کار واخستلو.هغه پوهیدله چه روپئ پیسه داسي څیزدي چه فولاد هم نرموی.اوهغي دا ازمیښت کول هم غوښتل.چه اوګوری چه حضرت سلیمان علیه السلام زمونږ دا مال هم قبلوی اوکه نه؟ که قبول ئي کړو.نو پوهه شئ چه هغه یو بادشاه دي.بیادهغوی سره مقابله کولوکښي څه باك نشته.اوکه واپس ئي کړو.نوپه نبوت کښي ئي شك نشته.بیا مقابله سراسر فضول بلکه نقصان دي.(۱)

فَلَمَّا	جَآءَ	سُلَيْمٰنَ		
| نو هر کله چی | ورغي قاصد | سلیمان ته				
| نو څۀ وخت چي (دسبا) سفیر سلیمان علیه السلام ته راغلو | نوهغه ورته				
قَالَ	اَتُمِدُّوْنَنِ	بِمَالٍ ۫	فَمَآ	اٰتٰنِۦَ اللّٰهُ
نو اووئیل سلیمان | آیا امداد کوئ تاسو زما | په مال سره | پس هغه څه | چی راکړی دی ماته الله				
اووئیل چي آیا تاسو په مال باندي زما مدد کول غواړئ |نو واورئی الله ﷻ چي ماته				
خَيْرٌ	مِّمَّآ	اٰتٰىكُمْ ۚ	بَلْ	اَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ
ډیر بهتره دی | دهغي نه | چی درکړی ئي دی تاسو ته | بلکه تاسو | په تحفو خپلو سره |				
څه راکړی دی|هغه دهغي نه ډیر شئ دی |کوم چي هغه تاسو ته درکړی دی| بلکه هم تاسو				
تَفْرَحُوْنَ ۝	اِرْجِعْ	اِلَيْهِمْ	فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ	بِجُنُوْدٍ
خوشحالیږئ | واپس لاړشه اے قاصده | هغوئ ته | پس وربه ولو مونږ هغوئ ته | داسي لښکرې				
پخپلو تحفو خوشحاله اوسئ |ته خپلو خلقو ته واپس لاړ شه| مونږ بهٔ ورپسي داسي فوځونه وراولیږو				
لَّا قِبَلَ	لَهُمْ	بِهَا	وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ	
چی نه به وی طاقت دمقابلي | هغوئ لره | دهغه لښکرو سره | اواوبه باسو مونږ هغوئ لره |				
چي دهغوئ به هیڅ مقابله اونکړي شی|او مونږ بهٔ ئي دهغه ځائي نه په ذلت سره اوباسو				
مِنْهَآ	اَذِلَّةً	وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ۝		
دهغه (ښار سبا) نه | په داسي ذلت سره | چی هغوئ به خوارو ذلیله وی				
| اوهغوئ به رسوا شی |				

(۱) الطبری : ۱۹/۴۵۵.

قوله تعالیٰ:- قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ

دحضرت سلیمان ﷺ دتحفې قبلولونه انکار:- بلقیس ډیره زیاته قیمتی تحفه سلیمان ﷺ ته اولیږله. سرهٔ زر، ملغلرې، جواهرات وغیره دسروزرو ډیرې زیاتې خښتې،دسرو زرو لوخی وغیره، بعضې وانی چه څه هلکان یې دښځوپه جاموکښې،اوڅه ښځې ئې دجینکوپه جاموکښې اولیږلې.اووې ونیل که دوی لره هغوی اوپیژندل.نوهغهٔ لره نبی منل پکاردی.کله چه دوی سلیمان ﷺ ته اورسیدل. نو هغوی ټولوته د اودس کولوحکم ورکړو.جینکو خود لوخی نه اوبه اوبهیولې خپل لاسونه ئې وینځل.او هلکانو په لوخی کښې لاس دننه کړو،اوبه ئې واخستلې.په دې سره هغوی دواړه جدا جدا اوپیژندل او جدائې کړل.چه دا جینکۍ دی اودا هلکان دی.بعضې وانی چه داسې ئې اوپیژندل چه جینکو څو مخکښې دخپلولاسونو دننه حصه(تلې)اووینځلو.اوهلکانو ددې په خلاف بهرحصه مخکښې اووینځله. داهم نقل دی چه د هغوی نه یوډلې خود مړوندنه لاسونه وینځل شروع کړل.او ګوتې پورې ئې وینځل.اویو جماعت ددې په خلاف دلاسونو دګوتونه شروع کړله مړوند پورې ئې وینځل.په دې کښې یوهم منافات نشته.والله اعلم. داهم ذکردی چه بلقیس یو لوښې لیږلې وو.چه دادداسې اوبونه ډک کړه چه هغه نه دزمکې وی نه د آسمان، نوهغوی اسونه اوزغلول اودهغوی دخولونه ئې هغه لوښې ډک کړو.هغې څه خرمهرې یعنی سنک یاناقوس اویوه رسۍ لیږلې وه.هغوی هغه په رسۍ کښې اوپیلل.داټول اقوال عام طورباندې دښی اسرائیل د روایتونونه اخستلې شوی دی.اوس الله ﷻ ته علم دې.چه په دې کښې په حقیقت کښې کوم څه اوشو،یاهیڅ اونه شو؟البته په ښکاره خود قرآن د الفاظونه معلومیږی.چه سلیمان ﷺ هغې قیمتی تحفې طرف ته هیڅ توجه ورنکړله.اودهغې په لیدلونې اوفرمائیل.چه آیا تاسو ماته دمال رشوت راکوئ په شرک باندې باقی پاتې کیدل غواړئ؟دا بالکل ناممکن دی.ماته رب ډیر څه راکړی دی.ملك اومال اولښکرې ټول ماسره موجود دی.ستاسونه په هرشان ښه حالت کښې یم.(فَالْحَمْدُ لِلّٰهِ)هم تاسوپه دې هدیې سره خوشحاله شئ.داکار مې تاسوته اوسپارلوچه په مال راضی شئ او تحفه تاسو تیټ کړی.دلته خو دوه څیزونه دی.یاشرك پریږدئ یا توره بند کړئ.داهم وئیلې شوی دی. چه دهغې دقاصدانو رارسیدلونه مخکښې سلیمان ﷺ جناتوته حکم ورکړو.اوهغوی زرمحلونه تیارکړل.کوم وخت چه قاصدان دبادشاهئ تخت ته راورسیدل.دامحلونه ئې اولیدل هوش ئې ختم شو.او وې وئیل دا بادشاه خوبه زمونږ داتحفې خپل سپکاوې اوګڼی.دلته خوسره زردخاورې خیثیت هم نه لری.ددې نه هم داثابته شوه.چه بادشاهانو له داجائزدی.چه دبهرخلقودپاره څه مشقتونه اوکړی.اودقاصدانوپه مخکښې خپل ښائست ښکاره کړی

قوله تعالیٰ:- اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ

د سلیمان ﷺ د لښکرو بلقیس سره د جهاد اعلان:- بیا سلیمان ﷺ قاصدانوته اوفرمائیل.چه دا هدیې هم هغې ته واپس کړئ.اوهغې ته اووایئ چه د مقابلې تیاری اوکړئ.یاد ساتئ زهٔ به هغه لښکرسره حمله کوم.چه هغوی مخې ته راتلې هم نه شی.دهغوی مونږسره دجنګ کولو طاقت هم نشته.مونږبه هغوی لره دهغوی دبادشاهئ نه دوه لاسه دوه خپې ذلت او رسوایئ سره اوباسو.دهغې تخت اوتاج به دخپو لاندې کړو.کله چه قاصدانو دهغې تحفې واپس یوړلې اورسیدل.اود بادشاه پیغام ئې هم واورولو. بلقیس ته دهغوی دنبوت یقین اوشو.اوپه خپله هم اوټول لښکر او رعیت (ماتحت) مسلمانان شول. او خپلولښکروسره هغه دحضرت سلیمان ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه.کله چه سلیمان ﷺ دهغې دا قصد معلوم کړو.نو ډیرخوشحاله شو.اود الله تعالی شکرنې اداکړو.

قَالَ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا	اَيُّكُمْ	يَّاْتِيْنِيْ	بِعَرْشِهَا	قَبْلَ
اووئیل سلیمان اے درباریانو	کوم یوله تاسو نه	به راوړی ماته	تخت دهغې	مخکښې
(سلیمان ﷺ) اووئیل چې ائې سردارانو	څوک به ماته دهغې (ملکې)تخت ددې نه وړاندې راورسوی			

Scanned with Ca

أَنْ يَّأْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿۳۸﴾ قَالَ عِفْرِيْتٌ مِّنَ الْجِنِّ

ددي نه چې راشي هغوئ ماته | مسلمان (تابع) | اووئيل | يو زور ور پيرى | دپيريانونه
چې هغوئ راته تابع راشي ؟ | نو يو مضبوط پيرى ورته اووئيل | چې څه به ئې درته د دربار

أَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ أَنْ تَقُوْمَ مِنْ مَّقَامِكَ ۚ وَإِنِّيْ

زۀ به راوړم تاته | دا تخت | مخكښى ددې نه چې تۀ پاسې | دخانې خپل نه | او بيشكه زۀ |
ختميدو نه وړاندې راحاضر كړم | او زه ددې طاقت لرم

عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِيْنٌ ﴿۳۹﴾ قَالَ الَّذِيْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ

په راوړلو دهغې | قوى | امانتگر يم | اووئيل هغه سړى | چې دهغه سره | علم وو | دكتاب نه
او امانتدار يم | يو بل سړى چې دكتاب علم ورسره وو | هغه اووئيل

أَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ أَنْ يَّرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۭ فَلَمَّا

زۀ به راوړم تاته | دا تخت | مخكښى ددې نه | چې واپس راشي | تاته | نظر ستا | نو هر كله چې
چې زه ئې د سترګو درپولو نه وړاندې راحاضرولې شم | نو چې سليمان عليه السلام هغه تخت

رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ ۡ

اوليدو سليمان هغه | پروت | خپل خواته | نو وې وئيل | داكار دفضل درب زمانه دې |
خپل خان سره پروت اوليدو | نو وې وئيل چې دا زما د رب فضل دې |

لِيَبْلُوَنِيْٓ ءَاَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۭ وَمَنْ شَكَرَ

دپاره ددې چې وازمانې مالره | چې شكر اوباسم زۀ | يا ناشكرى كوم زۀ | او څوك چې شكر كوى |
چې په ما امتحان اوكړى | چې زه ئې شكر اوباسم | او كه ناشكرى كوم او څوك چې شكر كوى

فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّيْ

نو بيشكه | هغه شكر كوى | دپاره دخان خپل | او څوك چې ناشكرى كوى | پس بيشكه | رب زما
نو د خپل خان ګټې له شكر كوى | او څوك چې ناشكرى كوى | نو زما رب

غَنِيٌّ كَرِيْمٌ ﴿۴۰﴾

بې حاجته دې | كرم والا دې |
غنى دې | او كريم دې |

دبلقيس سره دسليمان عليه السلام طرفته روانيدل: كله چه قاصدان واپس اورسيدل اوبلقيس ته ئې دوباره دنبوت پيغام اورسولو. نوهغه پوهه شوه. اووې وئيل په الله قسم اداربښتونې پيغمبر دې. اودپيغمبر مقابلې ته څوك نه شى ټينګيدلې. هم دغه وخت ئې دوباره قاصد اوليږلو. چه زۀ دخپل قوم سردارانوسره خدمت كښې حاضريږم. چه په خپله تاسوسره ملاوشم، دينى معلومات حاصل كړم. او تاسو نه خپله تسلى اوكړم. ددې وينا نه پس ئې دلته خپل يونائب جوړكړو. د بادشاهت انتظامات ئې هغه ته اوسپارل. خپل لاجوابه قيمتى جوړشوې تخت كوم چه د سرو زرو وو. په اووۀ محلونوكښې ئې تاله كړو. اوخپل خليفه ته ئې دهغې دحفاظت خاص تاكيد اوكړو. او دولس زره سرداران چه په هغوى كښې دهريو ماتحت په

زرګونو سړی وو.خپل ځان سره ئې روان کړل.اود سلیمانﷺ ملك طرف ته روان شول.جناتوبه قدم په قدم اود وخت وخت خبرونه سلیمانﷺ ته رسول.

قوله تعالی:- قَالَ يَاأَيُّهَا الْمَلَؤُا أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا

دسلیمان ﷺ دبلقیس دتخت راوړلو حکم اوتخت حاضریدل:- کله چه هغوی ته معلومه شوه.چه هغوی نزدې رارسیدلی دی.نوهغهٔ خپل یودربارکښې چه په هغې کښې جنات اوانسان ټول موجودوو.وې فرمائیل چه څوك شته چه هغه دهغې تخت دهغې د رارسیدلونه مخکښې دلته راوړسوی؟ ([1]) څکه چه کله هغه دلته راشی.اوپه اسلام کښې داخله شی.بیابه دهغې مال په مونږباندې حرام شی.(دا قول د قتادهﷺ دې.ډیره ممکن ده چه ددې اصل هم څه اسرائیلی روایت وی) په دې اوریدوسره یو طاقتور سرکش جن چه دهغهٔ نوم کوزن وو.چه هغه د یولوئې غرپه شان وو.هغهٔ اووئیل.که چرې تاسوماته حکم راکړئ. نو ستاسوددربارمجلس ختمیدلونه مخکښې به ئې زهٔ راوړم. هغوی به دخلقوفیصلی کولې، او جهګړې به ئې خلاصولې،او انصاف به ئې کولو.دسحرنه تر غرمې پورې به عام دربارلګیدلې وو.هغهٔ اووئیل. زهٔ ددې تخت راوړلو طاقت لرم.اوزهٔ امانت دارهم یم.دهغې نه به هیڅ ځیزنه پټوم.حضرت سلیمانﷺ اوفرمائیل.زهٔ غواړم چه ددې نه هم مخکښې هغه ماته راورسی.ددې نه معلومیږی چه دالله د نبی حضرت سلیمان بن داؤد ددې تخت راغوښتلو غرض داوو.چه خپل یو زبردسته معجزه اود پوره طاقت ثبوت بلقیس ته اوښائی.چه دبلقیس هغه تخت هغې ته اوښائی.کوم چه هغې په اووهٔ تاله شوو محلونوکښې ایخودې وو.هغه دهغې دراتلونه مخکښې دسلیمانﷺ په دربارکښې موجود دې.(هغه مقصدنه ووکوم چه پورته په روایت دقتادهﷺ سره بیان شو)دسلیمانﷺ ددې جلتی تقاضې اوریدلو سره هغه کس اووئیل چاسره چه دکتابعلم وو.دابن عباسﷺ قول دې چه دآصف وو.چه داد سلیمانﷺ کاتب وو.دهغهٔ د پلارنوم برکیا وو.دا ولی الله وو.اسم اعظم ورته معلوم وو.پوخ مسلمان وو.دبنی اسرائیلونه وو.مجاهدرحمه الله وائی چه دهغهٔ نوم اسطوم وو.بلیخ هم نقل دې.دهغهٔ لقب ذوالنوروو. دعبدالله بن لهیعه قول دې.چه داخضر وو.لیکن دا قول ډیرغریب دې.هغه اووئیل چه تاسوخپل نظر واړوئ کوم ځائې ته چه رسیږی نظراوکړه.اوس به تاسولاګوری چه زهٔ به ئې راوړم.پس سلیمانﷺ یمن طرف ته چرته چه دهغې تخت وو.نظرئې اوکړو.دلته هغه پاسیدلو،اودس ئې اوکړوپه دعاکښې مشغول شو.اووې وئیل.((یاذوالجلال والاکرام)) ([2])یائې اوفرمائیل ((یاالهنا واله کل شئ الها واحدالااله الاانت التی بعرشها)) دغه وخت د بلقیس تخت مخې ته راغې.دومره لږشان وخت کښې دیمن نه بیتُ المقدس ته هغه تخت راورسیدلو.اود سلیمانﷺ د لښکرپه وړاندې د زمکې نه راووتلو.

قوله تعالی:- فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهُ قَالَ هَٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي ﷻ

تخ رارسیدلو باندې دسلیمان ﷺ دالله ﷻ نه دعااوشکر:- کله چه سلیمانﷺ هغه خپلې مخې ته موجود اولیدلو. نووې فرمائیل.دا صرف زماد رب مهربانی ده.چه هغه زما ازمیښت اوکړی.چه زهٔ شکر کوم او که ناشکری؟ څوك چه شکراوکړی هغه خپله فائده کوی.اوڅوك چه ناشکری اوکړی هغه خپل نقصان کوی.الله ﷻ دبندګانو دبندګئ نه بې نیازدې.اوپه خپله دبندګانونه هم دهغهٔ عظمت دچا محتاج نه دې. لکه چه فرمان دې.(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ) اخ څوك چه نیك عمل کوی.هغه دځان دپاره دې.او څوك چه ګناه کوی هغه دځان دپاره دې،بل ځائې کښې دی څوك چه نیکی کوی هغوی دځان دپاره نیکی جمع کوی،موسیﷺ خپل قوم ته فرمائیلی وو.تاسو اودمخ دزمکې ټول انسانان هم که دالله ﷻ کفر اوکړی. نودالله ﷻهیڅ نقصان نه شئ کولې.هغه غنی دې اوحمیددې.په صحیح مسلم کښې دی.چه الله ﷻ

---

[1]) الطبری : ۱۹/۴۲۰.

[2]) الطبری : ۱۹/۴۶۶.

Scanned with Ca

فرمانی.اې زما بندګانو اکه ستاسوتول مخکښې روستو انسانان جنات،دغوره نه غوره اودنیك بخت نه نیك بخت شی.نوزمابادشاهی زیاتیدې نه شی.اوکه تول په توله بدبخته اونافرمانه شی.نوزما بادشاهی کمیدې نه شی.داخو صرف ستاسوعملونه دی.چه جمع کیږی. او هم تاسوته به ملاویږی.چه کومه نیکی بیامومئ نودالله ﷻ شکراداکړئ.اوکومه بدی چه اووینئ نو صرف خپل نفس ملامته کړئ.(۱)

قَالَ	نَكِّرُوا	لَهَا	عَرْشَهَا	نَنْظُرْ
اووئیل سلیمان	نااشنا کړئ	هغې ته	تخت دهغې	مونږ وګورو
سلیمان ﷺ اووئیل چې ددې دتخت شکل بدل کړئی				چې اوګورو
أَتَهْتَدِيٓ	أَمْ تَكُونُ	مِنَ ٱلَّذِينَ	لَا يَهْتَدُونَ ۝	فَلَمَّا
چې ایا هغه صحیح لاره مومی	یا کیږی هغه	دهغه کسانونه	چې لارنۀ مومی	نو هر کله چې
چې هغه پیژندې شی	که په هغه ناپوهه خلقو کښې ده	چې څیز پیژندلې نشی		نو څۀ
جَآءَتْ	قِيلَ	أَهَٰكَذَا	عَرْشُكِ ط	قَالَتْ	كَأَنَّهُۥ
راغله هغه	نو ورته اووئیلې شو	ایا درانګې دې	تخت ستا	اووئیل هغه	لکه چې دا
وخت چې هغه (ملکه) راورسیده	نو ورته اووئیلې شو	چې ایا ستا تخت ددې په شان دې		هغې اووئیل	
هُوَ ۚ	وَأُوتِينَا	ٱلْعِلْمَ	مِن قَبْلِهَا	وَكُنَّا	مُسْلِمِينَ ۝
هغه دې	او راکړې شوې وؤ مونږ ته	علم	مخکښې ددې نه	اووؤ مونږه	مسلمانان
لکه چې هم دا هم هغه دې	اوله دې نه وړاندې مونږ ته (ستاد صداقت) علم شوې وو			اوستا تابع شوی یو	
وَصَدَّهَا	مَا	كَانَتْ	تَّعْبُدُ	مِن دُونِ ٱللَّهِ ط	
اومنع کړې وه هغې لره	هغه څیز	چې وه هغه	چې عبادت به ئې کولو	بې دالله نه (دنورو معبودانو)	
اوهغه نښه دالله تعالی نه سوا دنورو معبودانو عبادت داسلام نه منع کړې وه					
إِنَّهَا	كَانَتْ	مِن قَوْمٍ	كَٰفِرِينَ ۝	قِيلَ	لَهَا	ٱدْخُلِى	ٱلصَّرْحَ ج
بیشکه هغه	وه	دقوم	کافرنه	اووئیلې شو	هغې ته	چې ننوزه	دې محل ته
هغه دیو کافرقوم نښه وه	دې ته اووئیلې شو	چې دې محل ته داخله شه					
فَلَمَّا	رَأَتْهُ	حَسِبَتْهُ	لُجَّةً	وَكَشَفَتْ
پس هرکله چې	اولیدو هغې هغه محل	انو ګمان ئې اوکړو په هغې	اداوبو دتالاب	اواوچتې ئې کړې پاینښې خپلې
څه وخت چې هغې (فرش) ته اوکتل	انو هغه ئې ژوړې اوبه اوګڼلې	اپینسې ئې اوچتې کړې		
عَن سَاقَيْهَا ط	قَالَ	إِنَّهُۥ	صَرْحٌ	مُّمَرَّدٌ	مِّن قَوَارِيرَ ط
دپنډو خپلونه	اووئیل سلیمان	چې بیشکه دا	محل دې	صفا هوار کړې شوې	دشیشې نه
اوخپلې پنډئ ئې څرګندې کړې	سلیمان اووئیل دا	خو یو محل دې	اچې دشیشې نه جوړ کړې شوې		

(۱) صحيح مسلم كتاب البر والصلة باب تحريم الظلم: ۲۵۷۷. ترمذی : ۲۴۹۵.

قَالَتْ	رَبِّ	اِنِّیْ	ظَلَمْتُ	نَفْسِیْ	وَاَسْلَمْتُ
اووئیل هغي الهربه زما ابیشکه زهٔ چی یم اظلم کړي دي ما اپه خان خپل باندي اواطاعت قبول کړوما					
دي اهغي اووئیل چې ائي زما ربه ! ما تر اوسه پوري په خان ظلم کړي اواو نن مي دسلیمان					
مَعَ سُلَیْمٰنَ	لِلّٰهِ	رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۴۴﴾			
دسلیمان سره	دالله	چې پالونکي دمخلوقاتو دي			
ﷺ سره په الله ﷻ	چې رب العالمین دي ایمان راوړو				

دبلقیس دسلیمان ﷺ په خدمت کښې حاضریدل اوایمان راوړل:-ددې تخت راتلونه پس حضرت سلیمان ﷺ حکم ورکړو.چه په دې کښې لږشان بدلون او تبدیلی اوکړئ.بس څه هیرې جواهرات بدل کړې شول.په رنګ روغن کښې تبدیلی اوکړې شوه(۱).لاندې باندې نه هم څه بدل کړې شو.څه کمې زیاتې هم اوکړې شو.چه د بلقیس ازمیښت اوکړی.چه هغه خپل تخت پیژندلې شی اوکه نه؟کله چه هغه راورسیده نو هغې ته اووئیلې شو.چه آیا ستا تخت دادې؟ هغې جواب ورکړو.چه هوبهو هم ددې پشان دي.ددې جواب نه دهغې تیزنظر، عقلمندی، لائق توب او هوښیارتوب ښکاره دي.چه دواړه طرفه ئې مخې ته اوساتل. وې لیدل چه تخت بالکل زما دتخت په شان دي.اوپه ښکاره دهغې دلته رارسیدل ناممکن دی.نوداسې دشك خبره ئې اوکړه.حضرت سلیمان ﷺ اوفرمائیل.ددې نه مخکښې مونږته علم راکړې شوې وو.اومونږ مسلمانان وو.بلقیس لره دالله تعالی نه سوا د نوروعبادت اودهغې کفر دالله تعالی د توحیدنه منع کړې وه.اوداهم کیدې شی چه حضرت سلیمان ﷺ بلقیس لره دغیرالله دعبادت نه منع کړله.ددې نه مخکښې دکافرانونه وه.لیکن درومبی قول تائید ددې نه هم کیدې شی.چه بلقیس داسلام قبلولواعلان محل کښې داخلیدونه پس کړې دې.لکه چه ډیرنزدې به بیان شی سلیمان ﷺ د جناتوپه لاسونو یومحل جوړکړې وو.چه هغه صرف د شیشې اوکانچ وو.او دهغې لاندې د اوبونه ډك تالاب وو.شیشه ډیره صفاوه.راتلونکی د شیشې فرق نه شوکولې.بلکه هغهٔ ته به هم دامعلومیده. چه ټولې اوبه دی.حالانکه دهغې دپاسه دشیشې فرش وو.

دسلیمان د شیشې د محل جوړلو مقصد څوو؟په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې:-دبعضې خلقو بیان دې.چه دې کاریګرئ نه د سلیمان ﷺ مقصد داوو.چه هغوی هغې سره نکاح کول غوښتل.لیکن دائې اوریدلی وو.چه دهغې پلار ډیرې خرابې دی.اودهغې ګیتۍ د ځاروۍ د نوکانوپه شان دی. ددې تحقیق دپاره هغوی داسې کړی وو.کله چه هغه دلته راغله.نود اوبو تالاب ئې اولیدهٔ خپلې پائنځې ئې اوچتې کړې.هغوی اولیدل چه کومه خبره ماته رارسیدلې ده غلطه ده.دهغې پلار اوخپې بالکل د انسانانوپه شان دی.څه نقصان یا بدصورتی پکښې نشته. البته چونکه بې وادهٔ وه.په پلار باندې ئې ویښته لوئې لوئې وو.هغوی پتری (بلیډ) سره د کټ کولو مشوره ورکړله.لیکن هغې اووئیل.ددې برداشت به زمانه اونه شی.هغوی جناتوته اووئیل څه ځیزجوړکړئ چه هغې سره ویښته ختم شی. نو هغوی هرټال (چونه) پیش کړله.چه دا دوائی دټولونه مخکښې دحضرت سلیمان ﷺ په حکم سره تلاش کړې شوه.

اوځنټې وائی چې محل ته د راغوښتلو وجه داوه چه هغه دخپلې بادشاهئ نه،دخپل دربارنه،دخپل رونق نه، دخپل سازوسامان نه،دخپلو خوندونو اوعیش نه،اودخپل ځان نه لویه هستی اووینی.اوخپل مال دولت اونوکران چاکران ئې دنظرونونه اوغورزیږی.چه دې سره تکبر او غرورختمیدل هم یقینی وو. کله چه دننه راغله او تالاب ته راورسیده نوهغه ئې چپې وهونکې دریاب اوګنړلو پائنځې ئې اوچتې

---

(۱) الطبری : ۴۶۹/۱۹.

کړي. دغه وخت اووئیلی شوچه ته غلطه شوي. په دې خوشیشه لګیدلې ده.تاسوددې دپاسه دخپو لوندیدونه بغیر راتلې شئ.هغه چه سلیمانؑ ته نزدې راورسیده.هغوی دهغې په غوږونو کښې د توحید خبرې واچولې.اود نمرپرستئ مذمت ئې ورته واورولو.ددې محل په لیدلو،په دې حقیقت باندې نظر اچولو سره،د دربار رونق لیدلوسره هغه دومره پوهه شوه.چه زما بادشاهی خو ددې بادشاهئ ډیره کمه ده لاندې اوبه دی،دپاسه پرې شیشه ده.په مینځ کښې دسلیمانؑ تخت دې.دپاسه پرې دمار غانوسورې دې.جنات اوانسانان ټول حاضردی.اوتابع فرمان دی.کله چه هغې ته دتوحید دعوت ورکړې شو. نود بې دینوپه شان هغې هم د زندیقیانو جواب ورکړو.چه هغې سره دالله تعالی په شان کښې ګستاخی لازمیدله.دهغې په اوریدوسره سلیمانؑ دالله تعالی په مخکښې سجده کښې پریوتلو.او د هغوی په لیدلودهغوی ټول لښکرهم،اوس خوهغه ډیره پښیمانه شوه.اوسلیمانؑ هم اورټله چه څه دې اووئیل؟هغې اووئیل زمانه غلطی اوشوه.اوهم دغه وخت الله تعالی ته په سجده شوه.اووې وئیل.اې الله ماپه خپل ځان باندې ظلم اوکړو.اوس ماحضرت سلیمانؑسره په الله رب العالمین باندې ایمان راوړلو.اوپه ربښتونی زړۀ سره مسلمانه شوه.

دسلیمانؑ دبادشاهئ متعلق اوږد اومنکر روایت:-په ابن ابی شیبه کښې دلته یو غریب اثر دابن عباسؓ نه نقل دې.هغوی فرمائی چه حضرت سلیمانؑ به کله په تخت باندې کیناستلو.نوهغوی سره نزدې کرسو باندې به انسانان کیناستل.بیابه هغې سره نزدې کرسوباندې جنات کیناستل.بیابه د هغوی نه پس شیطانان کیناستل.بیابه هوا هغه تخت اوچتولو.او رازوړند به وو.بیابه مارغان راتلل خپلو وزروسره به ئې سورې جوړکړو.بیابه هغوی هواته حکم کولو.اوهغه به روان شو.سحرسحر به ئې د میاشتو فاصلې باندې رسولو.دغه شان به دمابنام د میاشتو لرې سفرپوره کیدلو.

یوځل دغه شان هغوی روان وو.د مارغان تلاش ئې چه اوکړو.نوهدهد ئې غائب بیا مونډلو.ډیرخفه شو.اووې فرمائیل.هغه ماته په جماعت کښې په نظرنه راځی.په ربښتیا غیرحاضردې.نوزۀ به هغۀ ته سخته سزا ورکړم.بلکه حلال به ئې کړم.البته دا جداخبره ده.چه هغه دغیرحاضرئ څه معقوله وجه بیان کړی.په داسې موقع به هغوی د مارغانو وزرې ویستلې اوپه زمکه به ئې غورزولې،چینجو مینجو به هغه خوړلې.ددې نه پس لږوخت کښې پخپله حاضرشو.خپل سبا ته تلل اودهغه ځائې خبر راوړل ئې بیان کړل.حضرت سلیمانؑ دهغه د ربښتیاؤ د ازمیښت دپاره هغۀ لره د ملکۀ سبا په نوم باندې یو خط ورکړو،او دوباره ئې اولیږلو.چه په هغې کښې ملکه ته هدایت کولې شی چه زما نافرمانی مه کوه. او مسلمانه شه زما خواته راشه.ددې خط په لیدوسره دملکه په زړۀ کښې ددې خط اوددې د لیکونکی عزت کینی.هغوی خپلو درباریانوسره مشوره کوی.هغوی په خپل قوت باندې نازکوی اووائی چه مونږ تیار یو.صرف د اشارې انتظاردی.لیکن د بد وخت اوخپل شکست باندې نظرکولوسره ددې ارادې نه منع کیږی.اود دوستئ سلسله داسې شروع کوی.چه تحفې اوهدیې حضرت سلیمانؑ ته لیږی.چه هغې لره سلیمانؑ واپس کوی.اود حملې کولو دهمکی ورکوی.اوس هغه دخپل طرفه روانیږی کله چه نزدې اورسی.اودهغې دلښکر دوړې سلیمانؑ اووینی نوبیا فرمائی.چه ددې تخت راوړئ .یو جن وائی ډیره ښۀ زۀ ئې اوس راوړم.ستاسو ددې ځائې نه دپاسیدونه مخکښې مخکښې به ئې راوړم. سلیمانؑ اوفرمائیل.آیا ددې نه زرممکن ده؟ په دې باندې خوهغه خاموش شو. لیکن دکتاب علم والااووئیل.اوس د سترګې په رپ کښې،په دې کښې ئې چه اوکتل په کومه کرسئ باندې قدم اینبودلو سره چه حضرت سلیمانؑ شاهی تخت ته ختلې وو.دهغې لاندې نه دبلقیس تخت رابنکاره شو. هغوی دالله شکراداکړو.خلقوته ئې نصیحت اوکړو.اوپه هغې کښې دځه ردوبدل کولوحکم ئې ورکړو. د هغې راتلوسره ئې دهغې نه ددې تخت باره کښې تپوس اوکړو.نوهغې اووئیل.ګویا هم هغه دې.هغې د

Scanned with Ca

سلیمانؑ نه دوه څیزونه اوغوښتل.یو داسې اوبه چه هغه نه د زمکې نه راوتلې وی.نه داسمان نه راوریدلې وی.دسلیمانؑ عادت وو.چه کله به دځه تپوس کولوضرورت پیښ شو.نواول به ئې دانسانانونه تپوس کولو.بیا دجناتونه،بیا دشیطانانونه.ددې سوال په جواب کښې شیطانانو اووئیل.چه دا څه مشکل څیزنه دې.اسونه اوزغلوه او دهغې د خولونه هغې ته یوه ډکه پیالئ ورکړه. ددې سوال دپوره دکیدونه پس هغې دویم سوال اوکړو.چه دالله تعالی رنګ څنګه دې؟ ددې په اوریدو سره سلیمانؑ ډیرغصه شو.اوهم دغه وخت په سجده کښې پریوتلو.اوالله تعالی ته ئې عرض اوکړو. چه ای الله‌ادې داسې سوال اوکړو.چه زه خو ددې ستانه تپوس هم نه شم کولې.دالله تعالی دطرفه جواب ملاوشو.چه بې فکره شه.زه درله کافی یم.هغوی دسجدې نه پاسیدل اووې فرمائیل تاځه تپوس کړې وو؟ هغې اووئیل د اوبوباره کښې زما سوال وو.هغه تا پوره کړو.بل څه خوماتپوس نه دې کړې. هغې په خپله اودهغې ټول لښکر والو دویم سوال هیرکړو.هغوی دلښکر والونه هم تپوس اوکړو .چه دې دویم سوال کوم کړې وو؟ نوټولو هم داجواب ورکړو.چه سوا داوبونه ئې بل څه دویم سوال نه دې کړې. د شیطانانو په زړۀ کښې خیال راغې.چه که سلیمانؑ دا خوښه کړله اودا ئې په خپله نکاح کښې واخستله.او اولادئې هم اوشو.نودا زمونږنه همیشه دپاره لاړه.په دې وجه هغوی تالاب جوړکړو.د اوبونه ئې ډک کړو.اودپاسه ئې پرې د شیشې فرش جوړکړو.په داسې طریقې سره کتونکی ته دامعلوم هم نه شی هغه ئې اوبه اوګنړی.کله چه بلقیس دربارته راغله.اوپه هغه ځائې تیریدله.نود اوبوپه خیال ئې خپلې پاښځې اوچتې کړلې.سلیمانؑ د پنډو ویښته لیدلوسره ناخوښی ښکاره کړله.لیکن ورسره ئې اوفرمائیل.چه ددې دلرې کولوکوشش اوکړه.نو اووئیلې شوچه پتری سره لرې کیدې شی. هغوی اوفرمائیل ددې نشان زما ناخوښه دې.بل څه چل اوښایئ.پس شیطانانو طلا(چونه) جوړه کړله.چه د هغې لګولوسره ویښته لرې شو.پس اول اول بال صفا طلا دحضرت سلیمانؑ حکم سره تیارشوی دی. امام ابن ابی شیبهؒ ددې قصې نقل کولونه پس لیکلی دی داځومره ښه قصه ده لیکن زه وایم بالکل منکراوسخت غریب ده.دا دعطاء بن سائب وهم دی.چه هغۀ دا دابن عباسؓ په نوم سره بیان کړې دې. او قیاس ته زیاته نزدې خبره داده.چه دادښی اسرائیلودرجسټرنه اخستې شوې ده.کوم چه مسلمانانو کښې کعب او وهب مشهوره کړې وه.الله تعالی دې هغوی معاف کړی.پس په دې قصوهیڅ اعتماد نشته.بنی اسرائیل خو جدت پسند وو.نوې نوې قصې ئې جوړولې.بدلول، دځانه جوړول، کمې زیاتې کول،دهغوی په عادت کښې داخل وو.دالله ﷻ شکردې.چه مونږئې دهغوی محتاج نه یو ساتلی.مونږته ئې هغه کتاب راکړو.اودخپل نبیﷺپه ژبه ئې هغه خبرې راورسولې.چه هغه په نفع کښې، وضاحت کښې،بیان کښې دهغوی دخبرونه ډیرې اعلی او اوچتې دی.ددې سره ډیرې فائده مندې او ډیراحتیاط والادی.فالحمدلله.

قوله‌تعالی:- قِيْلَ اَهٰكَذَا عَرْشُكِ ؕ

صرح وائی محل ته اوهراوچت عمارت ته.لکه چه فرعون ملعون هم خپل وزیر هامان ته دا وئیلی وو.چه ﴿يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا﴾ دیمن دیوخاص اعلی اوچت محل نوم هم صرح وو.ددې نه مرادهغه عمارت دې.چه هغه محکم،مضبوط اوقوی وی.د بلور اوصفا شیشې نه جوړکړې شوې وو.په دومة الجندل کښې یوه قلعه ده.دهغې نوم هم مارددې.مقصد صرف دومره وو.چه کله دغه ملکه(بلقیس)دسلیمانؑ دا اوچتوالې،لوئې شان وشوکت اودابادشاهت اولیدۀ.اوپدې کښې غور او فکر سره دحضرت سلیمانؑ سیرت،دهغوی نیکی،او دهغوی دعوت واوریدۀ.نو یقین ئې اوشو.چه دا د الله ربښتونې رسول دې.هم هغه وخت مسلمانه شوه.دخپل مخکینی کُفر اوشرک نه ئې توبه ویسټله.اود سلیمانؑ ددین تابعداره جوړه شوه.دالله تعالی عبادت ئې شروع کړو.چه هغه خالق مالک، متصرف اومختارکل دې.

Scanned with Ca

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ

| او لیږلي وو مونږ | ثمودیانو ته |

| او مونږ ثمودیانو ته

اَخَاهُمْ صٰلِحًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ فَرِيْقٰنِ

رور دهغوئ | صالح | چې بندګي کوئ دالله | نو پس شو | هغوئ | دوه ډلي

دهغوئ رور صالح ﷺ اولیږلو | چې تاسو دالله ﷻ عبادت کوئی | نوهغوئ دوه ټولی شول

يَخْتَصِمُوْنَ ۝ قَالَ يٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ

چې یو بل سره ئې جګړې شروع کړې | اووئیل صالح | اے قومه زما | ولې تلوار کوئ تاسو

چې په خپل مینځ کښې به ئې جګړې کولې | صالح ﷺ اووئیل چې ائې زما قومه ! تاسو ولې دنیکئ

بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ۚ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ

په بدئ | مخکښې دنیکئ نه | ولې نۀ غواړئ تاسو ښښنه | دالله نه | دپاره ددې چې

کولو نه وړاندې په عذاب راوستو باندې تلوار کوئی | تاسو ولې دالله ﷻ نه معافی نه

تُرْحَمُوْنَ ۝ قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ

په تاسو رحم اوکړې شی | اووئیل هغوئ | چې بدفالی نیولی ده مونږه | په تاباندې | او په هغه چا

غواړئی | چې الله ﷻ درباندې رحم اوکړی | هغوئ جواب ورکړو | چې مونږ ته ته اوستاملګری

مَّعَكَ ۭ قَالَ طٰۗىِٕرُكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

چې ستا سره دی | اووئیل صالح | بدفالی ستاسو | دالله سره ده | بلکه یئ تاسو | یو قوم

سپیره ښکاری | صالح اووئیل چې ستاسو سپیره توب دالله ﷻ دطرفنه دې | بلکه تاسو هغه خلق یئ

تُفْتَنُوْنَ ۝

چې ازمائیلي کیږئ |

چې په ازمیښت کښې اخته شوی یئ

قوله تعالی:- وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا

دحضرت صالح ﷺ خپل قوم ته بیان د توحید او دهغوئ انکار:- حضرت صالح ﷺ چه کله خپل قوم ثمود ته راغې. اود الله تعالی رسالت اداکولوسره ئې هغوی ته د توحید دعوت ورکړو. نوپه هغوی کښې دوه ډلې جوړې شوې. یوه ډله د مؤمنانو او دویمه ډله دکافرانو. دوی (۱) په خپل مینځ کښې په جهګړه شول. لکه چه بل ځائې کښې دی. چه تکبر ګونکو، عاجزی کونکوته اووئیل. چه آیا تاسوصالح دالله رسول منئ؟ هغوی جواب ورکړو. چه مونږ په ښکاره ایمان راوړلې دې. هغوی اووئیل. بس مونږهم دغه شان په ښکاره کافران یو. صالح ﷺ خپل قوم ته اوفرمائیل چه په تاسوځه شوی دی. چه په ځائې درحمت غوښتلو عذاب غواړئ؟ تاسو استغفار اوکړئ. چه رحمت نازل شی. هغوی جواب ورکړو. چه زمونږ خویقین دې چه زمونږ دټولومصیبتونو سبب ته یې اوستا دا منونکی دی. هم دا فرعونیانو کلیم الله ته وئیلی وو. چه کوم نعمتونه مونږته ملاویږی دهغې لائق خو مونږیو. لیکن کوم مصیبتونه چه رارسی. هغه ټول ستا او

---

(۱) الطبری : ۴۷۵/۱۹.

Scanned with Ca

ستا دملګرو په وجه دی.په بل آیت کښې دی ﴿وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ﴾الخ،یعنی که دوی ته څه خیراورسی نو وائی چه دا دالله تعالی دطرفه دې.اوکه دوی ته څه مصیبت اورسیږی نو وائی چه دا ستا دطرفه دی.ته ورته اووایه چه هرڅه دالله تعالی دطرفه دی.یعنی دالله ﷻ قضاء اوتقدیر سره دی.په سورة یسین کښې هم دکافرانوخپلو پیغمبرانوته داوینا موجوده.﴿قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ﴾مونږخو تاسوسره بدفالی اخلو. که تاسومنع نه شوئ.نومونږ خوبه تاسو سنګسار کړو.او سخته سزا به درکړو.جواب ئې ورکړو.چه ستاسوبدفالی خوهروخت ستاسوپه وجودکښې موجود ده.دلته دی چه صالح ﷺ جواب ورکړو چه ستاسو بدفالی خوالله ﷻ سره ده.یعنی هم هغه به تاسوته ددې بدله درکوی.بلکه تاسوخو په فتنه کښې اچولی شوی خلق یئ.په تاسو ازمینښت کولې شی.فرمانبرداریٔ سره هم اونافرمانیٔ سره هم.او باوجود ستاسو دنافرمانیٔ تاسوته مهلت درکولې شی.دادالله ﷻ دطرفه مهلت دی.ددې نه پس نیول دی.

وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ	تِسْعَةُ رَهْطٍ	يُفْسِدُونَ		
اووؤ په ښار کښې	نهه کسان	چې فساد به ئې کولو		
او په دې ښار کښې نهه سړی وو	چې په ملک کښې ئې			
فِي الْأَرْضِ	وَلَا يُصْلِحُونَ ۝	قَالُوا	تَقَاسَمُوا	بِاللَّهِ
په زمکه کښې	اونۀ به ئې کولو کار داصلاح	اووئیل هغوئ	چې قسمونه اوخورئ	په الله باندې
فساد خورولو	او سم کار به ئې نه کولو	هغوئ اووئیل چې په خپل مینځ کښې په الله ﷻ		
لَنُبَيِّتَنَّهُ	وَأَهْلَهُ	ثُمَّ لَنَقُولَنَّ	لِوَلِيِّهِ مَا	
چې خامخا به دشپې حمله کوؤ په هغه	اوپه کور والو دهغه	بیا به وایو مونږه	ولی دهغه ته	
قسمونه اوخورئی	چې شپه په شپه به صالح ﷺ اودهغه بال بچ مړه کړو	او بیا به دهغه		
شَهِدْنَا	مَهْلِكَ	أَهْلِهِ	وَإِنَّا	لَصَادِقُونَ ۝
چې حاضر نۀ وؤ مونږ	په وخت دهلاکت	دخاندان دهغه کښې	او بیشکه مونږه	خامخا رښتینی یو
وارثانو ته اووایو	چې مونږ دهغه دبال بچ دوژلو په وخت کښې موجود نه وو	او بیشکه مونږ		
وَمَكَرُوا	مَكْرًا	وَمَكَرْنَا	مَكْرًا	وَهُمْ
او اوکړو هغوئ	(فریب) یو پټ تدبیر	اواوکړو مونږه (هم)	یو پټ تدبیر	حال داچې هغوئ
رښتیا وایو	او ثمودیانو یو پټ تدبیر اوکړو	او مونږ هم یوپټ تدبیر اوکړو	چې هغوئ	
لَا يَشْعُرُونَ ۝	فَانْظُرْ	كَيْفَ كَانَ	عَاقِبَةُ	مَكْرِهِمْ	أَنَّا
هلاونۀ پوهیدل په هغې	پس اوګوره	چې څرنګ شو	انجام	دپټ تدبیر دهغوئ	بیشکه مونږه
پرې نه پوهیدل	نو اوګوره چې ددغې خلقو د فریب انجام څۀ شو	چې مونږ هغوئ		
دَمَّرْنَاهُمْ	وَقَوْمَهُمْ	أَجْمَعِينَ ۝	فَتِلْكَ	بُيُوتُهُمْ	خَاوِيَةً
هلاک کړل هغوئ	او قوم دهغوئ	ټول	پس دغه دی	کورونه دهغوئ	چې خالی پراتۀ دی
او دهغوئ ټول	قوم هم تباه کړل	نو (اوس) دغه	کورونه دی	چې ددوئ	

Scanned with Ca

بِهَا	ظَلَمُوْا ؕ	اِنَّ	فِیْ ذٰلِكَ	لَاٰیَةً	لِّقَوْمٍ
په سبب دهغې	چې ظلم کوو هغوئ	بیشکه	په دې کار کښې	یوه نښه ده	دپاره دهغه قوم
دکفر په وجه کنډر پراته دی	بیشکه په دې کښې پوهه خلقو دپاره دعبرت نښه ده				
یَّعْلَمُوْنَ ۝	وَاَنْجَیْنَا	الَّذِیْنَ	اٰمَنُوْا	وَكَانُوْا	
چې پوهه لري	اوخلاصې ورکړو مونږ	هغه کسانوله	چې ایمان ئې راوړې ووئ	اووئ هغوئ	
.....او څوک چې ایمان دار او پرهیزګار وو	هغوئ ته مو نجات ورکړو				
یَتَّقُوْنَ ۝					
چې ځان ئې ساتلو دنافرمانئ نه					

قوله تعالی:- وَكَانَ فِی الْمَدِیْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ یُّفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِ وَلَا یُصْلِحُوْنَ ۝

دثمودیانونهه بدمعاشیان او دهغوئ فسادونه اودهغوئ هلاکت:- دثمودیانوپه ښارکښې نهه فسادیان سړی ووچه دهغوی په طبیعت کښې دسره اصلاح هم نه وه.هم دا دهغوی مشران اوسرداران وو.هم ددوی په مشورې اوحکم سره اوښه وژلې شوې وه.دهغوی نومونه دادی (۱).دعمی،دعیم،هریم،داب، صواب، مسټع،ریاب،قدار ابن سالف. هم دا آخری سړې هغه دې چه پخپل لاس سره ئې داوښې خپې ماتې کړې وې چه ددې بیان په ﴿ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ ﴾ او آیت ﴿اشقاها﴾کښې دې.هم داهغه خلق وو.چه د درهم سکه به ئې لږه شان تراشله اودا به ئې چلوله.سکې کټ کول هم یوقسم فساد دې.په ابوداؤد وغیره کښې حدیث دې چه هغې کښې بغیرضرورت نه هغه سکه کټ کول کومه چه مسلمانانوکښې چلیږی نبی کریم ﷺ منع فرمانیلی دی(۲).غرض داچه ددوی دا فسادهم وو.او نور فسادونه ئې هم ډیرزیات وو.دا ناپاکه ډله یو ځائې شوه.مشوره ئې اوکړه چه نن شپه صالح او دهغهٔ کورنئ قتل کړئ.په دې باندې ټولو قسمونه واخستل.اومضبوط لوظ او وعده ئې اوکړه.لیکن حضرت صالح علیه السلام ته د رسیدلونه مخکښې دې خلقونه دالله تعالی عذاب راورسیدلو.او دوی ئې تباه کړل.د پورته نه یو لوئې ګټ راوڅرګیدلو او ددې ټولو سردارانو سرونه مات شول.ټول په یوځل مړه شول.ددوی حوصلې ډیرې زیاتې شوې وې. خاصکر کله چه دوی دحضرت صالح علیه السلام اوښه قتل کړله.اووې لیدل چه هیڅ عذاب رانغلو.نو اوس دالله تعالی نبی قتلولوباندې راضی شول.مشورې ئې اوکړلې.چه چپ چاپ ناڅاپه هغه او دهغهٔ بال بچ هلاک کړئ. دهغهٔ والی، وارثان اوقوم ته اووایئ چه مونږځه خبریو.که صالح علیه السلام نبی وی.نوهغهٔ ته زمونږلاس نه شی رسیدلې.کنې هغه هم دهغهٔ اوښې سره مړکړئ.په دې ارادې سره روان شول.هم په لاره کښې ووچه فرشتې په کانړی دهغوی ټولو دماغ ټکړې ټکړې کړل.دهغوی په مشوروکښې چه نورکوم جماعت شریك وو.هغوی چه کله اولیدل.چه دهغوی دټلو موده اوشوه.او واپس رانغلل.نو دوی خبر اخستلو دپاره روان شو. وې کتل چه دټولو سرونه چاوړلی دی.مازغه ئې ویستلې پراته دی.اوټول مړه دی. هغوی په حضرت صالح علیه السلام باندې ددوی دقتل الزام اولګولو.او دهغوی د وژلو دپاره پورته اوختل. لیکن دهغهٔ قوم وسله بند راغلل وې وئیل.اوکورئ دوی تاسوته وئیلی وو.چه دریو ورځوکښې به دالله تعالی عذاب په تاسوباندې راځی.تاسو دې دریو ورځو تیریدو پورې انتظار اوکړئ.که دې ربنتونې دې نوددهٔ په قتلولوبه الله تعالی نورهم ناراضه کړئ.او ډیر سخت عذاب به راشی.اوکه دې دروغژن دې. نو

---

(۱) الطبری : ۴۷۷/۱۹.

(۲) ابوداود کتاب البیوع باب فی کسر الدرهم : ۳۴۴۹..

Scanned with Ca

بیابه ستا دلاس نه بچ چرته لاړشی؟ نوهغه خلق لاړل.یقینا هغوی ته حضرت صالح﵇ صفا فرمانیلی وو چه تاسوالله تعالی اوښه قتل کړي ده.نو تاسو دري ورځو پوري مزي واخلئ.بیابه دالله تعالی ربښتوني وعده پوره کیږی.دې خلقو دحضرت صالح﵇ دژبې نه دې اوریدوسره اووئیل.دې خو دومره موده ښانی راځئ چه مونږهم نن ددۀ نه فارغ شو.دکوم کانړی نه چه اوښه راوتلې وه.هم په هغه غر باندې دحضرت صالح﵇ یو جمات وو.چه هلته به صالح﵇ مونځ کولو.هغوی مشوره اوکړله.چه کله هغه مانځۀ له راشی.هم هغه وخت ئې په لاره کښې مړکړئ.کله چه غرته اوختل.نووې کتل چه د پورته نه یو لوئې ګټ رارغږیدونکې راروان دي. د هغې نه پټیدو دپاره یوغارکښې پټ شول.ګټ راغې د غار په خُله کښې داسې اودریدلو.چه خُله ئې بالکل بنده شوه.ټول په ټوله هلاک شول.اوچاته پته هم اونه لګیده چه چرته لاړل؟ دلته په دوی باندې دا عذاب راغې.هلته باقی خلق هم هلته هلاک کړې شول.نه د هغوی خبر دوی ته اوشو،نه ددوی خبرهغوی ته.دحضرت صالح﵇ اوایماندارو خلقوچاهیځ نقصان هم اونکړو.اوخپل ځانونه ئې دالله تعالی عذابونوته اوغورزول.هغوی چل اوکړو.مونږ دهغوی د چال بازئ مزه هغوی ته اوڅکوله.اوهغوی ته ددې نه لږمخکښې هم هیڅ علم اونه شو. دهغوی د دهوکه بازئ آخری انجام داشوچه ټول په ټوله تباه او برباد شول.دادی دهغوی کلی چه وران پراته دی.دهغوی دظلم په وجه هغوی هلاک شول.دهغوی رونق دار ښارونه تباه کړې شو.

وَلُوْطًا	اِذْ	قَالَ	لِقَوْمِهٖٓ
او(اولیږومونږ) لوط	کله چې	اووئیل هغه	قوم خپل ته
اومونږ لوط﵇ اولیږلو څه وخت چې هغه خپل قوم ته اووئیل			.....
اَتَاْتُوْنَ	الْفَاحِشَةَ	وَاَنْتُمْ	تُبْصِرُوْنَ ۝
ایا راځئ تاسو	د بې حیایئ کار ته (بدکارئ ته)	او تاسو	ورته ګورئ
چې دا تاسو څه دبې حیایئ کار کوئی	حال دا چې تاسو وینئ ګورئ		..... ایا تاسو
لَتَاْتُوْنَ	الرِّجَالَ	شَهْوَةً	مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ
خامخا راځئ	سړو ته	دپاره دشهوت	په ځائ دښځو (یا غیر دښځو نه)
د هلکانو نه خپل شهوت پوره کوئ	چې ښځې مو پریخودی دی		حقیقت دادې چې تاسو
بَلْ	اَنْتُمْ قَوْمٌ	تَجْهَلُوْنَ ۝	فَمَا كَانَ
بلکه تاسو	یو قوم یئ	چې سخت دجهالت کار کوئ	پس نه ووُ
ډیر جاهل قوم یئ	انو دهغې قوم نه بل هیڅ جواب اونشو		خو دا ئې اووئیل
جَوَابَ	قَوْمِهٖٓ	اِلَّآ	اَنْ
جواب	دقوم دهغه	مګر	داچې
اوې وئیل	چې اوباسئ	اهل خانه دلوط	دکلی ستاسو نه
چې دلوط خپلوان دخپل کلی نه بهر اوباسئ			..... دوئ خپل ځانونه
قَالُوْٓا	اَخْرِجُوْٓا	اٰلَ لُوْطٍ	مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ
بیشکه دوئ	پاک پاکیزه ښکاره کوی		
اِنَّهُمْ	اُنَاسٌ	يَّتَطَهَّرُوْنَ ۝	فَاَنْجَيْنٰهُ
داسې خلق دی	چې ځانونه پاک ساتی		پس خلاصې ورکړو مونږ هغه له
	..... نومونږ هغه اودهغه خپلوان بچ کړل		
وَاَهْلَهٗٓ			
او کورواله دهغه ته			
اسو ددۀ			

اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۫	قَدَّرْنٰهَا	مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾	وَاَمْطَرْنَا
مگر نهٔ ښځې دهغه ته	چې فيصله کړې وه مونږه دهغې	دباقي پاتې کيدونکو نه	او راوروړ مونږ
دښځې نه دکومې په حق کښې چې مونږ مقرر کړې وه	چې ورستو پاتې کيدونکو نه ښځ وی		
عَلَيْهِمْ	مَّطَرًا ۚ	فَسَآءَ	مَطَرُ
په هغوئ باندې	باران دکانړو	پس ډير خراب وو	باران
او په هغوئ مو بل قسم باران اوورولو	نو د يرولې شوو خلقو څومره خراب باران وو		
الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۵۸﴾ ع	قُلِ		
ديرول کړې شوو	اووايه اے نبی		
ته اووايه			
الْحَمْدُ	لِلّٰهِ	وَسَلٰمٌ	عَلٰى عِبَادِهِ
ثناده	الله لره	او سلام دې	په بندګانو دهغه باندې
ټول تعريفونه د الله ﷻ دپاره دی	اودهغه په منتخب شوو بندګانو دې سلام وی		
الَّذِيْنَ	اصْطَفٰى ؕ		
هغه	چې غوره کړې دی الله		
ايا الله غوره دې			
آٰللّٰهُ	خَيْرٌ	اَمَّا	يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾ ؕ
ايا الله	بهتر دې	که هغه معبودان	چې د ،ئ نې شريکوی دهغه سره
که هغه څيزونه چې دوئ نې ورسره دځانه شريکوی			

قوله تعالیٰ:- وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ

دلوط ﷺ قوم ته نصيحت اودفعلئ نه منع کول: الله ﷻ دخپل بنده اورسول حضرت لوط ﷺ واقعه بيانوی.چه هغوی خپل اُمت يعنی قوم دهغوی په ناکاره کارباندې اويرول.چه دهغې کونکې دهغوی نه مخکښې هيڅوک نه وو تيرشوې.يعنی اغلام بازئ باندې نې اويرول.دټول قوم داحالت وو.سړوبه سړونه او ښځو به ښځونه شهوت پوره کولو.دې سره دومره بې حياشوی وو.چه دا ناکاره کار ئې پټول هم څه دومره ضروری نه ګڼرل.په خپلومجلسونوکښې به نې دا بدکارکولو.ښځې به نې پريښودلې سړوته به راتلل.په دې وجه حضرت لوط ﷺ اوفرمائيل.چه دخپل دې جهالت نه منع شئ تاسو خودومره تيرشوی او ناپوهه شوئ چه شرعی پاکوالی سره ستاسونه طبعی پاکوالې هم اووتلو.لکه چه دويم آيت کښې دی. ﴿اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ﴾ الخ. آيا تاسو سړوته راځئ اوښځې پريږدئ کومې چه الله تعالی ستاسو بيبيانې جوړې کړې دی؟ بلکه تاسو دحد نه زياتې کونکې خلق يئ.

قوله تعالیٰ:- فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ

لوط ﷺ ته د قوم جاهلانه جواب:- دقوم جواب ددې نه سواهيڅ نه وو.چه هرکله لوط اودلوط منونکی خلق ستاسوددې کارنه بيزاره دی.اوهغوی نه ستاسو منی.اونه تاسو دهغوی.نو بيا دهميشه دا جنګ جهګړې اوبکواس ولې نه ختمويئ.د لوط ﷺ کورنئ دوطن نه اوباسئ.دهغوی د روزانه جهګړونه نجات حاصل کړئ.

د قوم د فعلئ انجام:- کله چه کافرانو پخه اراده اوکړله.اوپه دې باندې کلک شول.او متفق شول.نوالله ﷻ هغوی هلاک کړل.اوخپل بندګان حضرت لوط ﷺ او دهغهٔ اهل نې دهغوی نه اوکوم عذاب چه په هغوی راغلو دهغې نه بچ کړل.البته دهغهٔ ښځه چه هغه دقوم سره ملګرې وه.هغه دمخکښې دغه هلاکيدونکو کښې ليکلې شوې وه.اوهغه دلته پاتې شوه اوعذاب سره تباه شوه.ځکه چه هغې به هغوی ته دهغوی په دين اودهغوی په طريقوکښې مدد ورکولو.دهغوی بدکارونه نې خوښول.هم هغې دحضرت لوط ﷺ د ميلمنو خبرقوم ته ورکړې وو.ليکن دا خيال ساتئ چه دهغوی په بدکارئ دا شريکه نه وه.دالله تعالی د نبی دمبزرګئ خلاف دی.چه دهغهٔ ښځه بدکاره وی. دې قوم باندې دآسمان نه کانړی راوړ ورولی شو.چه

Scanned with Ca

په هغې باندې دهغوی نومونه لیکلی شوی وو.په هریو باندې دهغۀ دنوم کانړې راغې.او یوهم دهغوی نه بچ نه شو.دظالمانونه دالله تعالی عذاب لرې نه دې. په هغوی باندې دالله تعالی حجت قائم شوې وو.هغوی نې اویرول.او دهمکیانې ئې ورکړې وې.تبلیغ د رسالت ډیر حده پورې شوې وو.لیکن هغوی په مخالفت کښې،دروغ ګنړلوکښې،اوپه خپله بې ایمانئ باندې کلك اودریدوکښې کمی اونکړه.دالله تعالی نبی حضرت لوط علیه السلام ته ئې تکلیفونه اورسول.بلکه دهغوی د ویستلو اراده ئې اوکړله.هم دغه وخت دې لوئې باران دې کانړو وریدلو هغوی ختم کړل.

قوله تعالی:- وَسَلٰمٌ عَلٰی عِبَادِهِ

دالله ﷻ په نیکانو بندګانو باندې سلام لیږلې: نبی کریم ﷺ ته حکم ورکولې شی چه ته اووایه چه د ټولو تعریفونولائق صرف الله ﷻ دې. هم هغه خپلو بندګانوته بې شمیره نعمتونه ورکړی دی.دهغۀ صفتونه ډیراوچت دی.دهغه نومونه اوچت اوپاك دی.اوحکم ورکولې شی چه ته دالله ﷻ په غوره بندګانو باندې سلام اولیږه.لکه انبیاءاو رسولان،حمد اوصلواة سره ذکرپه آیت ﴿ سُبحان ربك ﴾ الخ. کښې هم دې.

قوله تعالی:- اصْطَفٰی

ددې نه مراد څوک دی:-؟ دغوره بندګانونه مُراد اصحاب د رسول دی.اوپخپله انبیاء علیهم السلام په طریقه اولی په دې کښې داخل دی.الله تعالی دخپلو نبیانو او دهغوی دتابعدارو بچ کولو اود مخالفینو د تباه کولو نعمت بیان کړو.اودخپل تعریف کولو اوپه خپلو نیکانو بندګانو باندې دسلام لیږلوحکم ئې ورکړو.ددې نه پس دسوال په طورئې د مشرکانو ددې کارنه انکار اوکړو.چه هغوی الله ﷻ سره دهغۀ په عبادت کښې نور شریکوی.

الحمد لله نورلسمه پاره ختمه شوه

Scanned with Ca

اَمَّنْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	وَاَنْزَلَ	لَكُمْ
آیا هغه څوك	چې پیدا کړی ئې دی	آسمانونه	او زمکه	او راوې ورولې	ستاسو دپاره
که هغه پاک ذات چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړی دی				اوچا چې د آسمان نه ستاسو دپاره	
مِّنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَنْۢبَتْنَا	بِهٖ	حَدَآئِقَ	ذَاتَ بَهْجَةٍ
د آسمان نه	اوبه	پس زرغون کړل مونږه	په دغه اوبو سره	باغونه	تازګۍ والا (ښائیسته)
باران اوورولو	نوبیا مونږ د هغې (د اوبو) په ذریعه ښائسته باغونه رازرغون کړی دی				
مَا كَانَ	لَكُمْ	اَنْ تُنْۢبِتُوْا	شَجَرَهَا	ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ
نه وو	طاقت تاسو لره	چې زر غون کړئ	ونې دهغې	آیا شته معبود (بل)	د الله سره
د استاسو د طاقت خبره نه وه	چې دهغې باغونو ونې مو زرغون کړې وې	آیا د الله سره بل معبود هم شته؟			
بَلْ هُمْ	قَوْمٌ	يَّعْدِلُوْنَ			
بلکه دا خلق	دا سې قوم دی	چې څنګ کوی دحق نه			
(نه) بلکه دا هغه خلق دی چې د حق نه ډډه کوی					

قوله تعالی:- اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

حقیقی خالق دهرڅه صرف الله ﷻ دی:- بیان کولې شی چه د ټول کائنات آبادونکې د ټولو پیدا کونکې ټولوته رزق ورکونکې دټولوحفاظت کونکې د ټول جهان تدبیرکونکې صرف هم یوالله تعالی دی.دا اوچت آسمان اودا پرقیدونکی ستوری هم هغه پیدکړی دی. دا درنه زمکه اوداداوچتو څوکو غرونه او دا خواره کړې شوی میدانونه هم هغه پیداکړی دی. پټې باغونه ګلونه میوې دریابونه سمندرونه ځناور پیریان انسانان د اوچې اولمدې عام ځناور داټول هرڅه هم دغه یو الله تعالی پیداکړی دی. د آسمانونو نه اوبه رانازلونکې هم دغه یوالله تعالی دی دائی دخپل مخلوق د رزق ذریعه هم جوړه کړې ده.باغونه پټی هرڅه هم هغه راټوکوی چه د ښائسته ښکاریدو سره ډیرې فائده مند هم دی. د مزیدار خوندسره سره د ژوندقائم ساتلود پاره دی.تاسونه یا ستاسودباطلو معبودانونه هیڅ یوهم نه دڅه څیزد پیدا کولو قدرت لری اونه د یوې ونې د راټوکولو. بس هم هغه خالق اورازق دې.

دالله ﷻ دخالقیت مشرکان هم قائل وو خو عبادت یې د بل چا کولو:- د الله ﷻ خالقیت اود هغه روزی رسول مشرکانوهم منله. لکه چه بل آیت کښې ارشاد دی ﴿وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ﴾[1] یعنی که ته ددوی نه تپوس اوکړې چه هغوی چاپیداکړی دی؟نوبیابه د دوی هم دغه جواب وی چه الله ﷻ.غرض داچه دوی پیژنی اودوی منی چه خالق کل صرف هم الله ﷻ دې خود دوی عقلونه کارنه کوی چه د عبادت په وخت کښې الله تعالی سره نورهم شریك کوی سره ددې چه بنه پوهیږی چه نه هغوی پیدا کونکی دی اونه رزق ورکونکی دی.اود دې خبرې فیصله خو په آسانئی سره هریوعقل مندکولې شی چه د عبادت لائق هم هغه دې کوم چه خالق مالك او رزاق دې. پدې وجه په دې آیت کښې دلته داسوال اوکړې شو چه معبود برحق سره نور هم څوك په عبادت کښې لائق شته؟ آیا الله ﷻ سره د مخلوق په پیداکولوکښې رزق ورکولوکښې بل هم څوك شریك دې؟ دغه مشرکانو خالق اورازق هم الله تعالی منلو اوعبادت به نی د نوروکولو.

---

[1] ۴۳/الزخرف:۸۷.

Scanned with Ca

د دې وجه په بل آیت کښې ارشاد دې ﴿أَفَمَنْ يَخْلُقُ كَمَنْ لَا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ﴾[1] خالق اوغیرخالق یوشان نه دی بیاتاسو خالق اومخلوق څنګه یوشان کوئی؟ دا یادساتئی چه په دې آیاتونو کښې ﴿أَمَّنْ﴾ کوم کوم ځایْ کښې هم دې نوهلته هم دغه معنی ده چه یوځو هم هغه دې چه دا ټول کارونه کولې شی او په دې باندې قادر وی بل هغه چه هغه په دې کښې یوکارهم نه وی کړې اونه کولې شی آیادا دواړه برابریدلې شی؟ لکه چه بل شق په لفظونو کښې بیان نه کړې شو خود کلام طرز دابنکاره کوی.

یوبل آیت کښې بنکاره داهم دی چه ﴿آللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ﴾[2] آیا الله تعالی بهتردې که هغه چه کوم دوی شریکان کړی دی؟د آیت په خاتمه باندې فرمائی بلکه داهغه خلق دی چه الله ﷻ سره شریك ګرځوی آیت ﴿أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾[3] هم د دې آیت په شان دې یعنی یوهغه سړې چه په خپل زړه کښې د آخرت ویره لری د خپل رب د رحمت طمع لری شپې په مونځونوکښې تیروی نوهغه د هغه چا په شان نه شی کیدې د چا اعمال چه داسې نه وی.

بل خایْ دی چه عالم او بې علمه برابرنه دی. هم عقل مندد نصیحت نه فائده اوچتوی اود چا سینه چه د اسلام د پاره کولاوشوې وی اوهغه د خپل رب نه نور اوهدایت اخستې وی هغه د ده په شان نه دې د چا په زړه کښې چه د اسلام د طرف نه اندیښنه وی اوزړه ئې سخت وی.الله ﷻ پخپله د خپل ذات باره کښې فرمائیلی دی ﴿أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ۚ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ ۚ قُلْ سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ تُنَبِّئُونَهُ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ أَمْ بِظَاهِرٍ مِنَ الْقَوْلِ ۚ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۗ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾[4] یعنی چه هغه د مخلوق دهرهر حرکت اوکارنه خبروی ټولې د غیبو خبرې پیژنی په مثال دهغه دې چه هیڅ هم نه پیژنی؟ بلکه د چا چه هډوسترګې اوغوږونه نه وی لکه ستاسودا بتان.

ارشاد دې ﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ ۚ قُلْ سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ تُنَبِّئُونَهُ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ أَمْ بِظَاهِرٍ مِنَ الْقَوْلِ ۚ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۗ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾[5] دوی الله تعالی سره شریکان جوړوی دوی ته اووایه لږ شان د هغه نومونه خو ماته اوښایه نود دې ټولوآیاتونوهم دغه مطلب دې چه الله تعالی خپل صفتونه بیان کړی دی او بیانی دا خبر ورکړې دې چه دا صفتونه په چا کښې هم نشته.

						أَمَّنْ	جَعَلَ
						ایا هغه څوك دې	چې جوړه ئې کړه
						..... بلکه هغه ذات چې زمکه ئې	
الْأَرْضَ	قَرَارًا	وَجَعَلَ	خِلَالَهَا	أَنْهَارًا	وَجَعَلَ	لَهَا	
زمکه	خائې دقرار	او جوړ ئې کړل	په منځ دهغې کښې	نهرونه	او جوړ ئې کړل	دې زمکې لره	
د قرار خائې ګرځولې دې	او په دې کښې دننه ئې نهرونه جاری کړل	او ددې (دمضبوطتیا) دپاره ئې					

[1] ۱۶/النحل:۱۷.
[2] ۲۷/النمل:۵۹.
[3] ۳۹/الزمر:۹.
[4] ۱۳/الرعد:۳۳.
[5] ۱۳/الرعد:۳۳.

Scanned with Ca

رَوَاسِيَ	وَجَعَلَ	بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ	حَاجِزًا ؕ	ءَإِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ ؕ
درانۀ غرونه	او جوړه يې کړه	په منځ ددوۀ دريابونو کښې	پرده	ايا شته بل معبود	دالله سره
غرونه جوړ کړل	او د دوۀ دريابونو ترمينځه ئې پرده اوګرځوله			ايا دالله ﷻ سره بل معبود شته	

بَلْ أَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْلَمُونَ ۝ ؕ	أَمَّنْ	يُّجِيبُ	الْمُضْطَرَّ	
بلکه زيات خلق ددوئ	نۀ پوهيږی	ايا څوک دی هغه	چې قبلوی	دعا دبې قراره سړی	
(بيخی نشته) خو په دوئ کښې زيات خلق نه پوهيږی		که هغه ذات چې د بې قراره بنده دعا اوری			

إِذَا	دَعَاهُ	وَيَكْشِفُ	السُّوٓءَ	وَيَجْعَلُكُمْ	خُلَفَآءَ
کله چې	دعا اوغواړی دهغه نه	او لرې کوی	هغه تکليف	او جوړوئ تاسو	خليفګان
کله چې هغه ورته بلنه کوی		اومصيبت لرې کوی		اوتاسو ئې په زمکه کښې خليفګان جوړ کړې يئ	

الْأَرْضِ ؕ	ءَإِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ ؕ	قَلِيلًا	مَّا تَذَكَّرُونَ ۝ ؕ
دزمکې	ايا شته بل معبود	دالله سره	ډير لږ شان	نصيحت قبلوئ تاسو
.....	ايا دالله ﷻ سره بل معبود شته (نه نشته)			اخو تاسو ډير کم نصيحت قبلوئ

قوله تعالى:- أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا

زمکه نهرونه غرونه سمندرونه هم الله ﷻ پيداکړی دی: زمکه الله ﷻ ولاړه اوساکن پيدا کړه چه دنيا په آرام سره خپل ژوند تيرکړی شی اوپه دې خورشوی فرش باندې راحت حاصل کړې شی. لکه چه بل آيت کښې دی ﴿اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾[1] الله تعالى زمکه ستاسود پاره ولاړه اوساکنه جوړه کړه اوآسمان ئې چت جوړکړو. هغه په زمکه باندې داوبودريابونه اوبهيول چه اخوادیخوابهيږی اوملك ملك ته رسی زمکه خروب کوی دې دپاره چه په زمکه باندې پتی اوباغونه راوتوکيږی.هغه د زمکې مضبوطيادپاره په دې کښې د غرونو ميخونه ورخښ کړل چه هغه خوزيدې راخوزيدې نشی اوولاړه وی.دهغه قدرت ته اوګوره چه يوتريخ سمندردې او يوخوږ دواړه بهيږی په مينځ کښې هيڅ څيز د بنديز يا حجاب اوپرده نشته خوقدرت يود بل نه جداساتلې دې نه تريخ په خوږکښې اونه خوږ په تريخ کښې شاميدلې شی.ترخې اوبه خپلې فاندې ورکوی اوخوږې خپلې. ددې چهانړکړې شوې خوند ناکې مزيداری اوبه خلق څکی او په خپل څناوروباندې هم څکوی فصلونوباغونو اوباړو وغيره ته دااوبه رسوی لامبل وينځل وغيره.ترخې اوبه د خپلې فاندې نه خلق سودمندکولوسره داد هرطرف نه راګيرې شوی دی دې دپاره چه هواخرابه نه شی.

په يوبل آيت کښې هم د دې دواړو بيان شوې دې ﴿وَهُوَ الَّذِیْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ۝﴾[2] يعنی ددې دواړو سمندرونو روانونکې هم الله تعالى دې اوهم هغه د دې دواړو په مينځ کښې حداو فاصله کيخودې ده. دلته خپل داقدرتونه خودلوسره بياسوال کوی چه آياالله تعالى سره بل هم څوک شته چاچه دا کارونه کړی وی يائی کولې شی؟دې دپاره چه هغه هم د عبادت لائق اوګنړلې شی.اکثر خلق صرف په بې علمئی سره د غيرالله عبادت کوی.دعبادتونولائق خو صرف هم هغه يوالله تعالى دې.

---

[1] ٤٠ المؤمن: ٦٤.

[2] ٢٥/الفرقان: ٥٣.

Scanned with Ca

قوله تعالی:- اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ

د دردمندو بې کسوغږیبانانودعا څوک اوری؟ په سختواو مصیبتونوکښې د رابللو قابل هم هغه ذات دې د بې کسه اوبې وسه خلقوآسراهم هغه دې.پریوتلی هیرکړې شوی دهوکه شوی اوپه مصیبت کښې اخته شوی هم هغه ته چغې وهی اوهم دهغه طرف ته خیال ساتی.لکه چه ارشاد دې چه تاسو کله د سمندرطوفان د ژوندون نه ناامیده کړی نو هم هغه ته آوازونه کوئی اود هغه طرف ته ژړاګانې او زارئی کوئی اوټول هیروئی.دهغه ذات داسې دې چه هریوناقراره هغه سره پناه اخستې شی.د مصیبت وهونکو خلقو مصیبت بغیرد هغه نه هیڅ څوک نه شی لرې کولې.

د یو سړی په ټپوسونو د رسول کریم ﷺ هدایات:- یوسړی رسول الله ﷺ نه ټپوس اوکړو یارسول الله ﷺ ته مونږ د کوم څیز طرف ته رابلې؟حضورﷺ اوفرمانیل چه د الله تعالی طرف ته چه یواځې دې د چا چه څوک شریك نشته چه په هغه وخت کښې ستا په کار راځی کله چه ته په څه لانجه کونجه کښې اینختې ئی.هم هغه ذات دې چه کله ته په ځنګلونوکښې لار هیره کړې نوهم هغه ته آوازکوې نوهغه ستا لارخودنه اوکړی که ستاڅوک ورك شوې وی اوته هغه ته سوال اوکړې نو هغه به تاهغه سره ملاو کړی. که قحط راغلې وی نوته د هغه نه دعاکوه نوهغه به تاباندې یوشان باران راووروی. هغه سړې وئیل یارسول الله ﷺ ماته څه نصیحت اوکړه. حضورﷺ اوفرمانیل چاته بدردمه وایه د نیکنی هیڅ یوکار سپك او بې فائدې مه ګڼړه که د خپل مسلمان رور سره په رونړتندی باندې ملاویدل ولې نه وی. که په خپله ډولچه باندې یوتګی باندې اوبه څکل ولې نه وی. خپل تهبندد پنډئی د نیمئی پورې ساته که نه وی نوزیات نه زیات د ګیټوپورې د دې نه زیات زوړندولونه څان بچ ساته څکه چه دافخراوغرور دې کوم چه الله تعالی نه خوښوی (۱)

بل روایت کښې نور هدایات:- په یوروایت کښې د هغه نوم جابربن سلیم هجیمی ﷺ دې. په دې کښې دی چه کله زه حضورﷺ له راغلم حضورﷺ په څادر باندې ډډه لګولې وه ناست وودکوم پلاوونه چه د حضورﷺ په قدمونومبارکو باندې پراته وو. زه راغلم ټپوس مې اوکړو په تاسو کښې د الله تعالی رسول ﷺ کوم یودې؟ حضورﷺ په خپل لاس مبارك خپل ځان ته اشاره اوکړه.ماوئیل یارسول الله ﷺ زه د یوکلی اوسیدونکې یم څه ادب اوتمیزوغیره نه پیژنم ماته د اسلام د احکامو څه تعلیم راکړه. حضورﷺ اوفرمانیل چه یوه وړوکې غوندې نیکی هم سپکه مه ګڼړه که دخپل مسلمان رورسره دې په خوشحالئی ملاقات اوکړو اوکه د خپلې ډولچې د اوبوغوښتونکی له په لوښی کښې لرې شان اوبه ورکړی.که څوك ستاداسې څه خبره پیژنی اوهغه تاته په دې خبره څه شرم درکوی نوهغه له داسې په دې خبره باندې شرم مه ورکوه دې د پاره چه اجر ملاوشی اوهغه ګناهګار جوړشی د ګیټونه لاندې کپړه زوړندلو نه بچ شه څکه چه دا کبر دې اود الله تعالی خوښ نه دی. هیڅ چاته هم کنځلې مه کوه. فرمائی د دې اوریدو نه پس ما چرته یوانسان خوځه بلکه یوخناور ته هم کنځلې نه دی کړې (۲)

بیمار لره بیمارئی کښې خپل ځان دپاره دعا ګول پکار دی:- س طاؤس د یوبیمارپوښتنې له لاړو بیمار وئیل زما د پاره د الله تعالی نه دعااوکړه هغوی اوفرمانیل ته پخپله ځان ته دعااوکړه د بې قراره دبې قرارئی په وخت کښې دعاالله تعالی قبلوی.وهب رحمه الله فرمائی چه ما په وړاندینی آسمانی کتاب کښې لوستلی دی چه الله ﷻ فرمائی زمادې په خپل عزت باندې قسم وی کوم سړې چه په مابانديې باور اوکړی اوما اونیسی نوزه به هغه د ده د مخالفینونه بچ کړم اوخامخا به ئی بچ کوم. سره د دې که د زمکې اوآسمانونوټول مخلوق د ده په مخالفت باندې اوده ته په تکلیف رسولوباندې راجمع شی او څوك چه په

---

۱) احمد:۵/٦٤ ح٢٠٦٣٦ وسنده صحیح.(مسند احمد)

۲) ابوداؤدکتاب ا للباس باب ماجاء فی اسبال الازار:٤٠٨٤وسنده صحیح، السنن الکبری للنسائی:٩٦٩٤، احمد:٥/٦٤، ابن حبان:٥٢١

ماباندې یقین اونه کړی زما په پناه کښې رانه شی نو هغه به زه د امن اوامان نه اخواکړم اوکه غواړم نو په زمکه کښې به ئی دننه کړم اود هغه به هیڅ امداد نه کوم.

یوه ډیره عجیبه واقعه: یوه ډیره عجیبه واقعه حافظ ابن عساکر رحمه الله خپل کتاب کښې نقل کړې ده.یو صاحب فرمائی مابه په یوقچر باندې خلق ددمشق نه زیدانی ته اوړل اوهم په دغه کرایه باندې زما وخت تیریدلو.یوځل یوسړی قچرپه کرایه واخستوماهغه سورکړو اولاړم. یو ځائ کښې دوه لارې راغلې نوهغه وئیل په دې لار لاړشه. ماوئیل زه د دې لارې نه واقف نه یم نیغه لار داده هغه وئیل زه پوره واقف یم داډیره نیزدې لار ده. زه د هغه په وینا هم په هغه لار لاړم. لږ ساعت په ما اوکتل چه یو خوشی تشی میدان ته مونږ راورسیدو چرته چه هیڅ لار نه ښکاریده یوډیر خطرناك ځنګل وو او هر طرف نه مړی پراته وو.زه غلې شوم هغه وئیل لږه دا واګه اونیسه زه هم دلته کوزیږم. ما واګه اونیوله هغه راکوز شو او خپل تهبند ئی اوچت کړواوکپړې ټیک کړې اوچاړه ئی رااوویستله او په ما ئی حمله اوکړه. ما د هغه ځائ نه رامنډه کړه خو هغه ماپسې شو اوزه ئی راونیولم. ما هغه ته قسمونه ورکړل خو هغه هیڅ خیال اونه کړو.ما وئیل چه ښه ده قچر اوداټول سامان چه ماسره دې دا ته واخله خو ماپریږده. هغه وئیل چه داخوزما شو ولې زه تاهم ژوندې نه پریخودل غواړم. ما هغه ته د الله تعالی نه ویره ورکړه. د آخرت د عذابونو ذکر مې ورته اوکړو خو دې څیز په هغه باندې هیڅ اثراونه کړو. هغه زما په قتل کولوباندې کلك ولاړ وو.زه ناامیده شوم اودمرګ د پاره تیارشوم اوهغه ته مې سوال اوکړوچه مایودوو رکعتو مونځ له پریږده. هغه وئیل ښه ده زر کوه ما مونځ کول شروع کړو خو د رب قسم زماد ژبې نه یوحرف نه وتلو هسې مې داسې لاسونه ترلې ویریدلې ولاړووم او هغه به تندی کوله. هم هغه وخت اتفاقی زما په خُله باندې داآیت راغلو [أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ۝][1] (یعنی هم الله تعالی دې چه د بې قرارئې نه د بې قرارئې په وخت کښې دعااوری او قبلوی اوبې وسی او سختی لرې کوی.بس دا آیت زما د خلې نه وتل وو چه ما اوکتل د ځنګل په مینځ کښې یوپه اس سورخپل اس په تیزئی سره زغلولوسره زمونږ طرف ته راروان دې په لاس کښې ئی نیزه هم نیولې ده او بغیردځه وینا کولونه ئی هغه نیزه د ډاکو په خیټه کښې ورخښه کړه چه د هغه د ګرګس نه پورې راپورې اوتله اوهم هلته بې ځانه شو راپریوتلو.سور واګه ټاوه کړه او روانیدل ئی غوښتل خو زه د هغه په پښو پورې اونختلم او بې حاله (په عاجزئی سره او اصرار کولو سره) د الله تعالی د پاره دومره خو راته اووایه چه ته څوك ئی؟ هغه وئیل زه د هغه ذات رالیګلې شوې یم چه د مجبورو بې کسو او بې وسودعاقبلوی اومصیبت اوآفت اخواکوی.ماد الله ﷻ شکر ادا کړواوخپل قچراوسامان مې راواخستلو او صحیح سالم واپس راغلم.

بله واقعه:- دغه شان یوه بله واقعه هم ده چه د مسلمانانولښکرد کافرانونه ماتې اوخوړله او واپس شو. په دوی کښې یو مسلمان چه ډیر سخی وو موجود وو.دهغه اس ډیر تیز وو په لارکښې وران شو دې ولی الله ډیر کوشش اوکړو خوځناور هډو قدم اوچت نه کړو. آخر عاجز شو نو ورته ئی اووئیل چه څه خبره ده چه تاڅې شروع کړه هم د داسې موقع د پاره خو ماستاخدمت کولو اوته مې په مینه ساتلې وې. اس له الله تعالی ژبه ورکړه او جواب ئی ورکړو چه تابه زما وانښه اوګیادانه وغیره د اس ساتونکی له ورکوله هغه به دې نه پټوله اومالله به ئی د خوراك د پاره ډیره کمه دانه راکوله او په مابه ئی ظلم کولو. مالك وئیل چه ته اوس روان شه اوزه الله تعالی په مینځ کښې حاضر ناظر ګنړم اووعده کوم د نن نه پس به زه تاله په خپله غیږ کښې خوراك درکوم. خناور چه داواوریده نو په تیزئی سره ئی ټوپ کړو اوډیر زر ئی د امن ځائ ته اورسولو. د وعدې مطابق به اوس دې بزرګ په خپل اس باندې په خپله غیږ کښې

---

[1]) ۲۷/النمل:۶۲.

Scanned with Ca

خوراك كولو خلقو د ده نه د دې د وجه تپوس اوكړو نوهغه داواقعه بيان كړه اودا خبره عام مشهوره شوه اوخلق دې بزرګ له د لرې لرې نه د دې واقعه اوريدلود پاره راتلل.د روم بادشاه چه دا خبرواوريدو نو هغه دې په څه طريقه باندې خپل ښكار ته د روستلوډيركوشش اوكړو خو بې فائدې. آخر هغه څوك راوليګل چه چرته په څه بهانه باندې هغه بادشاه له راورسوى.داسړې اول مسلمان وو بيامرتدشو او دې دبادشاه نه راغلو اودلته ده سره ملاوشو دخپل اسلام څرګندونه ئې اوكړه اوتوبه ئې اوكړه اودير نيكئى سره دلته اوسيدلو.تردې چه د دې ولى الله په ده باندې پوره يقين پيداشو اوهغه ئې نيك او صالح اوګنړلواوهغه سره ئې دوستى جوړشوه او خان سره به ئې ګرځولو. هغه خپل پوره يقين كولوسره او د خپلې ظاهرى ديندارئى په وجه ئې هغه په خپله دهوكه كښې راګيركړو اوبادشاه ته ئې خبروركړو چه فلانكى وخت د درياب غاړې له يوښه مضبوط تكړه سړې راوليګه زه به دې هلته راولم اود دغه سړې په امدادبه داراګيركړم. ددې خبرې نه ئې هغه په دهوكه روان كړواوهلته ئې بوتلو.ناڅاپى داسړې ښكاره شو اوپه دې بزرګ ئې حمله اوكړه د بل طرف نه هغه مرتد حمله اوكړه. دې نيك سړې هغه وخت آسمان ته سترګې اوچتې كړې اودعائى اوكړه اې الله دې سړې خو ماته ستا په نوم سره دهوكه راكړه زه تاته سوال كوم چه ته څنګه غواړې ماد دې دواړونه بچ كړې. هلته د څنګل نه دوه ليوه ګان په منډه راتلونكى ښكاره شو اودا دواړه سړې ئې راګيركړه تكړې تكړې ئې كړل اولاړل اود الله تعالى دابنده بنه په امن او امان سره واپس صحيح سالم تشريف راوړ. رحمه الله.

قوله تعالى:- وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ؕ

دخپل رحمت دا شان بيانولوسره بيا الله عزوجل د طرف نه دا ارشاد بيانولې شى چه هم هغه ذات تاسو د زمكې مالكان جوړوى يويو شاته راروان دې اوبرابرداسلسله روانه ده. لكه چه ارشاد دې ﴿اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا۝﴾(۱) كه هغه اوغواړى نو تاسوتول به د دې خائ نه فناكړى اونور څوك به ستاسو په خائ كړى لكه څنګه چه ئې تاسو د نورو خليفه ګان كړى ئې. بل آيت كښې دى ﴿وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ؕ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ۝﴾(۲) هم هغه الله تعالى تاسو د زمكې جانشين جوړكړى ئى اويوله ئى په بل باندې درجې زياتې كړى دى.حضرت آدم عليه السلام ته چه ئې خليفه وئيلې وو هغه هم په دې اعتبارسره چه د هغه اولاد به د يوبل جانشين وى. لكه چه آيت كښې ﴿وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً ؕ قَالُوْٓا اَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ؕ قَالَ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ۝﴾(۳) په تفسير كښې په تفصيل سره بيان شوې دې.د دې آيت د دې جملې نه هم دا مراد دې د يونه پس بل اود يوې زمانې نه پس بله زمانه د يوقوم نه پس بل قوم اودا د الله تعالى قدرت دې او په دې كښې د مخلوق مصلحت دې ګڼى كه هغه غوښتل نو ټول به ئى هم په يووخت په يو خائ كښې پيداكړې وو اوپه يوځل به ئى فناكړى وو خوهغه دا خبره اوساتله چه يومړشى نو بل پيداشى.

حضرت آدم عليه السلام ئى پيداكړو د هغه نسل ئى خوركړواو په دنياكښې يوه داسې طريقه كيخوده چه د هغوى رزق او دهغوى ژوندتنګ نه شى ګڼى ټولو انسانو به په زمكه باندې په يوځل په تنګئى سره وخت تيرولو اود يونه به بل ته نقصان رسيدلو. داموجوده طريقه د الله تعالى په حكمت باندې دليل دې دټولو د پيداكولو مړه كولو تللو راتللود هغه په نيز باندې وخت مقرردې. يويود هغه په علم كښې دې د

---

۱) ٤/النساء:۱۳۳.
۲) ٦/الانعام:۱٦٥. الخ.
۳) ۲/البقره:۳۰.

Scanned with Ca

هغه د نظرنه څوك هم غيب نه دى. هغه يوه ورځ داسې هم راوړونكې دې چه د ټول به په ميدان كښې راجمع كړى اودهغوى فيصلې به اوكړى. د نيكنى اوبدنى بدله به وركوى. دا خپل قدرتونه بيانولوسره فرمائى چه شته څوك داسې چه داكارونه اوكړې شى؟ اوچه كله نه شى كولې نود عبادت لائق هم نه شى كيدې داسې صفادليلونه ډير كم سوچ كولې شى اود دې نه هم ډير كم خلق نصيحت حاصلوى.

اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ	فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ	وَالْبَحْرِ	وَمَنْ	يُّرْسِلُ
ايا هغه څوك دې چې لار ښائى تاسو ته	په تيرو داوچې (بيابان) كښې او ددرياب كښې او څوك			رالېږى
كه هغه چې تاسو ته د اوچې او د سمندرپه تورو تيارو كښې لارې ښائى	اوهغه ذات چې			
الرِّيٰحَ	بُشْرًا	بَيْنَ يَدَيْ	رَحْمَتِهٖ ؕ	ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ ؕ
هوائګانې	په طور دزيرى	مخكښى	درحمت خپل نه	آيا شته بل معبود	دالله سره
دخپل (باران) رحمت نه وړاندې زيرې وركونكى هوائګانې رالېږى	آيا دالله سره بل معبود شته (نشته)				
تَعٰلَى	اللّٰهُ	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ ۝	اَمَّنْ	
لوړ (اوچت) دې الله	دهغه څيزونونه	چې دوئ ئې شريكوى (دالله سره)	آيا هغه څوك دې		
الله ﷻ د دوئ جوړوكړو شريكانونه ډير اوچت دې	..... كه هغه ذات				
يَّبْدَؤُا	الْخَلْقَ ثُمَّ	يُعِيْدُهٗ	وَمَنْ	يَّرْزُقُكُمْ	
چې ابتداء كوى	دپيداوښت	بيا	اعاده كوى دهغې	او څوك دې	چې رزق وركوى تاسو له
چې مخلوقات ئې په اول څل پيدا كړل	اوبيا به ئې سردوباره پيدا كوى	اوهغه ذات چې تاسو ته			
مِّنَ السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ ؕ	ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ ؕ	قُلْ	هَاتُوْا	بُرْهَانَكُمْ
د آسمان نه	او دزمكې نه	آيا شته بل معبود	دالله سره	ورته اووايه	راوړئ	دليل خپل
د آسمان او زمكې نه روزى وركوى	آيا دالله سره بل معبود شته (نشته)	ته ورته اووايه چې خپل دليل راوړئ				
اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ ۝	قُلْ	لَّا يَعْلَمُ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	
كه يئ تاسو	رښتينى	اووايه	نه پوهيږى	هغه څوك	چې په آسمانونو كښې دى	
كه چرې تاسو رښتونى يئ	.....ورته اووايه چې په آسمانونو او					
وَالْاَرْضِ	الْغَيْبَ	اِلَّا اللّٰهُ ؕ	وَمَا يَشْعُرُوْنَ	اَيَّانَ	
او په زمكه كښې دى	په غيبو بلدې	ماسوا دالله نه	او معلومه نه ده دوئ ته	چې كله به	
زمكه كښې دالله ﷻ نه بغير بل څوك په غيبو پوهيږى؟	او دوئ خو دومره هم خبر نه دى				
يُبْعَثُوْنَ ۝	بَلِ ادّٰرَكَ	عِلْمُهُمْ	فِي الْاٰخِرَةِ ۚ	بَلْ	هُمْ
راپاسولې كيږى دوئ	بلكه ورك شوى دې	علم ددوئ	په باره داخرت كښې	بلكه	دوئ
چې كله به (دوباره) راژوندى كولى شى	بلكه داخرت په باره كښې د دوئ علم ورك دې	بلكه داخلق د آخرت باره كښې			

Scanned with Ca

فِيْ شَكٍّ	مِّنْهَا ۛ	بَلْ هُمْ	مِّنْهَا	عَمُوْنَ ۝
په شك كښې دى	د آخرت په حقله	بلكه دوئ	دهغې (قيامت) نه	ړانده دى
په شک کښې پراته دى	بلکه دوئ دهغې د راتلو نه خانونه ړانده کړى دى			

قوله تعالى:- اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

په تياروكښې هدايت اودباران دپاره يخې هواكانې څوک چلوى:- په زمكه اوآسمان كښې الله ﷻ داسې نښې كيخودې دى چه په اوچه يا لمده كښې څوك لارهيره كړى نوهغه دې ته په كتوسره نيغه لار اختيار كړى. لكه ارشاددې په ستوروسره خلق لار كورى په سمندرونوكښې او په اوچه كښې د دې كتو سره نيغ لاراخلى داوبونه ډكې اوريځې راوريږى دې نه وړاندې هغه يخې اوښكلې ښكلې هواكانې هغه چلوى په كوم سره چه خلق پوهيږى چه اوس به د رب رحمت راوريږى. د رب نه بغيرد دې كارونو كونكې هيڅ څوك نشته اونه څوك په دې باندې قادردې. د تولوشريكانونه هغه جدا دې پاك دې او اوچت دې.

قوله تعالى:- اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ

په دوباره پيداكولوباندې يو ښائسته مثال:- فرمائى چه رب هغه ذات دې چه په خپل قدرت كامله سره بغيرد نمونې نه مخلوقات پيداكوى. بيابه دوى فناه كړى اودوباره به ئې راپيدكوى. كله چه تاسو هغه په رومبى خل پيداكولو باندې قادرمنئ نودوباره پيداكول چه د دې نه ډير آسان دى په دې باندې ولې قادر نه منئ؟ دآسمان نه باران راورول دزمكې نه غلې راتوكول ستاسودرزق سامان د آسمان او زمكې نه كول هم دهغه كار دې. لكه چه په سورت طارق كښې فرمائى داوبود آسمان اودراتو كيدونكې زمكې قسم. بل آيت كښې دى ﴿يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ۝﴾ (۱) يعنى الله تعالى ته معلوم دى هريوځيز چه په زمكه كښې ځائ كړې شوې دې اوكوم چه د دې نه بهر راځى اوكوم چه د آسمان نه راكوزشى اوكوم چه دې ته اوخيژى. د آسمان نه باران راورونكې دې او دا په زمكه كښې د اخوانه ديخوا رسونكې او په دې سره قسم قسم ميوې گلونه گيابوتى راتوكونكې هم هغه دې. كوم چه ستاسو اوستاسو د څاروو رزق دې. يقينا دا تول څيزونه د يود عقل خاوندد پاره د الله تعالى لوئ لوئ نښې دى. خپل داقدرتونه او ډير بې انتها احسانونوبيانولوسره ارشاد فرمائى آيا الله تعالى سره په دې كارونوكولوكښې نور هم څوك شته چه د هغه عبادت اوكړې شى؟ كه تاسو د الله تعالى نه بغيرنور معبودان منل په څه دعوى سره ثابتولې شئ نوهغه دليل پيش كړئ صرف بې دليل خبرې دى. د دې دپاره بل آيت كښې فرمائى دالله تعالى نه بغيرد چه د نورو عبادت كوى د كوم چه هيڅ دليل دوى سره نشته هغه يقينى كافران دى او د خلاصى نه محروم دى.

قوله تعالى:- قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللّٰهُ ۚ

علم غيب صرف د الله ﷻ صفت دې:- الله ﷻ خپل نبى كريم ﷺ ته حكم وركوى چه هغه دې تول جهانۢ په دې باندې پوهه كړى چه تول مخلوق كه د آسمان وى كه د زمكې د غيب پيژندلود علم نه خالى دى بغيرد الله ﷻ نه چه وحده لاشريك له دې بل هيڅ څوك د غيبوپيژندونكې نشته. دلته استثناء منقطع ده. يعنى بغيرد الله ﷻ هيڅ څوك پيرې او فرښته په غيبونه پوهيږى. لكه چه ارشاد دې ﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمٰتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝﴾ (۲) يعنى

---

(۱) ۳٤/سبا:۲.

(۲) ٦/الانعام:٥٩.

دغیبو کنجیانې هم هغه سره دی کوم چه دهغه نه بغیر څوك هم نه پیژنی. بل ارشاد دې ﴿إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾(۱)هم الله تعالی سره د قیامت علم دې هم هغه باران راوروی اوهم هغه ته دمور په خیټه کښې دبچی خبردې هیڅ څوك نه پوهیږی چه صبابه څه کوی نه چاته داخبردې چه هغه به کوم ځای مری؟ علیم اوخبیرصرف هم الله تعالی دی. د دې مضمون نور هم آیاتونه شته. مخلوق ته خو داهم پته نشته چه قیامت به کله راځی؟د آسمانونواوزمکووالا یوهم نه دې خبر چه د قیامت وخت کوم یو دی؟ لکه چه فرمان دې ﴿ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾(۲)په ټولوباندې داعلم ګران اوسخت دې هغه خو به ناڅاپی راځی. د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمان دی که څوك وائی چه حضورﷺ د صبا خبره پیژنی نوهغه په الله تعالی باندې یو عظیم بهتان اوټرلو ځکه چه الله تعالی فرمائی د زمکې او آسمان والا کښې هیڅ څوك هم د غیبوپیژندونکې نشته.(۳) قتاده رحمه الله فرمائی چه الله تعالی په ستوروکښې دري فائدې ایخودې دې د آسمان ښائست د لار هیروشود پاره لارخودنه او د شیطانانو ویشتل. د بل څه خبرې دې سره عقیده لرل د خپل ځان نه خبره کول تکلیف اوچتول دی اوخپله حصه بیلل دی.

د ستور متعلق دجاهلانوګنده عقیدې:-جاهلانو ستوروسره علم نجوم ترلې اوددې متعلق ئی فضول خبرې جوړې کړی دی چه د دې ستوری په وخت کښې څوك نکاح اوکړی نوداسې به وی اود فلانکی ستوری په وخت سفرکولوسره داسې کیږی د فلانکی ستوری سره چه پیدائش اوشی نوداسې کیږی وغیره وغیره دا ټولې دځان نه خبرې دی. د دوی د دې بکواس خلاف هم اکثر کیږی. د هر ستوری په وخت کښې څوك تور سپین لندې اوږد ښائسته اوبدرنګه پیداکیږی نه یوځناور په غیبوپوهیږی اونه د یوې مرغۍ نه غیب حاصلیدې شی اونه ستوری د غیبولارخودنه کوی. واورئی د الله تعالی فیصله شوې ده چه دآسمان اوزمکې ټول مخلوق د غیبونه ناخبره دې. هغوی ته خود خپل راڅوندی کیدو وخت هم نه دې معلوم.(ابن ابی حاتم)سبحان الله د قتاده رحمه الله داقول څومره صحیح څومره فائده منداود معلوماتو نه ډك دې.

د اخرت باره کښې ټول مخلوقات په نه علم کیدو برابر دی:- بیا ارشاد فرمائی چه خبره داده چه د هغه د علم آخرت په وخت کښې د پیژندلونه تنګ راغلی اوعاجز شوی دی. په یوقراءت کښې ﴿بل ادرك﴾ دې یعنی ټول په ټول د آخرت د صحیح علم نه پیژندلوکښې برابردی. لکه چه حضورﷺ د حضرت جبرائیل علیه السلام د سوال په جواب کښې فرمائیلې ووزما اوستا دواړو علم د دې د جواب نه عاجز دی.(۴) نودلته هم اوفرمائیلې شو د آخرت نه د هغوی علم غیب دې.کافران د خپل رب نه جاهلان دی ځکه دوی د آخرت هم منکر دی اوهغه ځای ته د دوی علم رسی نه.یوقول داهم دې چه په آخرت کښې به دوی ته علم حاصلیږی خوبې فائدې دې لکه چه بل ځای دی په کومه ورځ چه دوی موټر له راورسی نوډیر اوریدونکی اوکتونکی به شی ولې نن به ظالمان په ښکاره ګمراهئی کښې وی. بیا ارشاد دې چه بلکه داخوبه په شك کښې دی دې نه مراد کافران دی. لکه چه ارشاد باری تعالی دې ﴿وَعُرِضُوا عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدْ

---

(۱) ۳۱/لقمان:۳٤.
(۲) ۷/الاعراف:۱۸۷.
(۳) صحیح مسلم کتاب الایمان باب معنی قول الله عزوجل ﴿ولقدرآه نزلة اخری﴾:۱۷۷.
(۴) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان الایمان والاسلام والاحسان ووجوب الایمان...:۸.

جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّنْ نَجْعَلَ لَكُمْ مَوْعِدًا ﴿۴۸﴾ (۱) یعنی داخلق به د خپل رب په وړاندې صفونه ترلې شوی پیش کیږی. الله تعالی به فرمائی چه مونږ تاسو په اول ځل څنګه پیداکړی وئی اوس تاسو مونږ راوړلئی خوتاسوهم داکنړل چه قیامت خو هیڅ څیز نه دې. مراد دا دې چه په تاسو کښې کافرانو دا کنړل. نو په پورته آیت کښې هم ضمیر د جنس طرف ته راګرځی خو مراد تری هم کافران دی. هم په دې وجه ئی په آخره کښې اوفرمائیل چه دوی خودې نه هم راندې دې نابینا کیږی اوسترګې بندکړی دی.

وَقَالَ الَّذِينَ	
اووائی هغه کسان	
او دا کافران	
كَفَرُوا أَإِذَا كُنَّا تُرَابًا وَآبَاؤُنَا أَإِنَّا	
چې دحق نه منکر دی ایا هر کله چې شو مونږه خاوري او پلاران زمونږه ایا نو مونږ به	
وائی چې ایا هرکله مونږ اوزمونږ مشران خاوري شو نو ایا مونږ به دوباره (د قبرونو نه) راژوندی	
لَمُخْرَجُونَ ﴿۶۷﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا نَحْنُ	
خامخا راایستلې کیږو خامخا وعدې شوی دی زمونږ سره ددې قیامت زمونږ سره هم	
کولې شو؟..... مونږ او زمونږ پلار نیکونو سره هم دا وعدې وړاندې شوې وې	
وَآبَاؤُنَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿۶۸﴾	
او دپلارانو زمونږ سره هم مخکښې ددې نه نۀ دی دا مګر قیصې دی دړومبنو خلقو	
..... دا هسې دپخوانو خلقو (جوړې کړې) قیصې دی	
قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ	
ورته اووایه چې اوګرځئ په زمکه کښې پس اوګورئ چې څرنګې وۀ انجام	
ورته اووایه چې زمکه کښې اوګرځئ نو اوګورئ چې د مجرمانو انجام څۀ شو ؟	
الْمُجْرِمِينَ ﴿۶۹﴾ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ فِي ضَيْقٍ مِمَّا	
دمجرمانو اوته غم مۀ کوه په حال ددوئ اومۀ کیږه تۀ په تنګئ کښې دهغې	
..... اوته دوئ په حال غم مه کوه او د دوئ په سازشونو خپل زړه مه	
يَمْكُرُونَ ﴿۷۰﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ	
فریبونونه چې دوئ ئې کوی اووائی دوئ کله به وی دا وعده که یئ تاسو	
تنګوه اودوئ وائی چې دا (د عذاب) وعده به کله پوره کیږی که چرې تاسو ریښتونی	
صَادِقِينَ ﴿۷۱﴾ قُلْ عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِي	
ریښتینی اووایه کیدې شی چې وی نزدې تاسو ته یوه حصه دهغه عذاب	
یئ (محبوبه) ته ورته اووایه چې کیدیشی چې تاسو کوم عذاب دومره په تلوار غواړئ د هغې بعضې	

(۱) ۱۸/الکهف:۴۸. الخ

Scanned with Ca

تَسْتَعْجِلُونَ ﴿۷۰﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ

چې غواړئ ئې تاسو په جلتئ | بیشکه | رب ستا | خاوند دفضل دې | په خلقو باندې | ولیکن

حصه په تاسو پورې لګیدلې وی | اوبیشکه ستا رب په خلقو ډیر مهربان دې | خو زیات

أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿۷۱﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ

اکثر ددوئ | شکر نه اوباسی | او بیشکه |رب ستا | خامخا پوهیږی | په هغه څه | چې پټوی ئې

خلق شکر نه اوباسی | اوبیشکه ستا رب ته هغه ټول څه معلوم دی | کوم چې د دوئ زړونه

صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿۷۲﴾ وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ

سینې ددوئ | او هغه | چې ښکاره کوئ ئې دوئ | او نشته یو پټ څیز | په آسمان کښې |

پټوی او کوم چې ښکاره کوی | .....او په اسمانونو او په

وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿۷۳﴾

او په زمکه کښې | مګر دی | په کتاب | ښکاره کښې |

زمکه کښې دسای هیڅ پټ څیز نشته | مګر په روښانه کتاب (لوح محفوظ) کښې لیک دی|

قوله تعالی:- وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَإِذَا كُنَّا تُرَابًا

د قیامت منکران په سخت عذاب سره مخ کړې شو:-دلته بیان کولې شی چه د قیامت د منکرانو په پوهه کښې تراوسه پورې دارانغله چه دمړه کیدواوسخاکیدونه پس خاوره اوایره کیدونه پس مونږ به بیا څنګه راپیداکولې شو؟هغوی په دې باندې سخت حیران دی.وائی چه د مودو نه خو مونږ هم دا اورو راروان یو ولې مونږ هیڅ څوک هم د مرګ نه پس راژوندی کیدوسره اونه لیده صرف د اوریدلو خبرې دی.هغوی د خپل ځان نه د وړاندې نه اوهغوی د مخکینونه اوریدلی دی او مونږ ته راورسیدې خو دا ټول د عقل نه لرې دی.

قوله تعالی:- قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا

الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته جواب ښائی دوی ته لږ شان اووایه چه په زمکه کښې اوګرځئ چه د رسولانو تکذیب کونکی اود قیامت نه منونکی څنګه په دردناك عذاب اود ارمان نه په ډك انجام سره هلاك او تباه شو اوانبیاء علیهم السلام اودایمان والا الله ﷻ بچ کړل.دا د انبیاء کرامو علیهم السلام د صداقت دلیل دې بیائی خپل نبی ﷺ ته تسلی ورکړه چه دوی تا اوزماکلام دروغ ګڼړی خوته په دوی باندې افسوس اوخفګان مه کوه. هغوی پسې خپل زړه مه خوره دا دوی چه تاسره کومې دهوکې اوچالبازئی کوی مونږ ته ښه معلوم دی ته بې فکره اوسه تاته اوستا دین ته ترقی ورکونکی هم مونږ په دنیااوجهان کښې به مونږ تا اوچت کړو.

قوله تعالی:- قُلْ عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ

تندی ولې کوئی قیامت نیزدې دې:-مشرکان خود قیامت دراتلوهډوقائل نه ووپه بهادرئی سره به ئی دازر غوښتلو اووئیل به ئی که رښتوې ئی نواوښایه چه کله به وی؟دالله ﷻ دطرف نه په واسطه د رسول الله ﷺ جواب ورکولې شی چه ممکن دی هغه ډیر نیزدې راغلې وی لکه چه بل آیت کښې دی ﴿قُلْ عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ قَرِيبًا﴾(۱) بل ځای دی دوی عذابونه زر غواړی اودوی خو په دوزخ کښې راګیرکړې شوی دی د ﴿لکم﴾ لام د ﴿ردف﴾ د ﴿عجل﴾ معنی دمتضمن کیدو په وجه ده. څنګه چه مجاهد رحمه الله نه روایت دې. بیا

(۱) ۱۷/الاسراء: ۵۱.

Scanned with Ca

فرمانی چه د الله ﷻ په انسانانو باندې ډیر فضل اوکرم دې د هغه بیشمیره نعمتونه دوی سره دی. بیا هم په دوی کښې ډیرناشکره دی. ځنګه چه ټول ظاهری امور په هغه باندې ښکاره دی دغه شان ټول باطنی امورهم هغه ته ښکاره دی. لکه چه فرمانی﴿ سَوَآءٌ مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِالَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ﴾(۱)بل آیت کښې دی ﴿يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى﴾(۲)بل آیت کښې دی﴿ أَلَآ إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ ۚ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾ (۳)مطلب هم دا دی چه د هر پټ او ښکاره هغه عالم دی بیابیان فرمانی چه د هرغیب اوحاضر هغه ته علم دی هغه علام الغیوب دی د آسمان او زمکې ټولوځیزونو که د هغې تاسوته علم وی که نه وی الله تعالی سره په کولاوکتاب کښې لیکلې شوی دی. لکه چه ارشاد دی آیاتاته نه ده معلومه چه د آسمان اوزمکې د هریوځیز عالم رب تعالی دی. هر څه په کتاب کښې موجود دی اوالله تعالی ته دا هرڅه آسان دی.

إِنَّ	هٰذَا	الْقُرْآنَ	يَقُصُّ	
بیشکه	دا قران		بیانوی	
بیشکه دا قران پاک				
عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ	أَكْثَرَ الَّذِي	هُمْ	فِيهِ	يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾
په بنی اسرائیلو باندې	اکثر هغه خبری	چی هغوئ	په هغې کښی	اختلاف کوی
بنی اسرائیلو ته زیاتې هغه خبرې څرګندوی	چې دوئ په کښې تراوسه اختلاف کوی			
وَإِنَّهُۥ	لَهُدًى	وَرَحْمَةٌ	لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾	إِنَّ رَبَّكَ
او بیشکه دا قرآن	خامخا هدایت دې	اورحمت دې	دپاره دمومنانو	بیشکه رب ستا
اودا کتاب د ایماندارو دپاره د هدایت ذریعه اورحمت دې	.....	بیشکه ستا رب		
يَقْضِى	بَيْنَهُم	بِحُكْمِهِۦ ۚ	وَهُوَ	الْعَزِيزُ	الْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾
فیصله به کوی	په منځ ددوئ کښی	په حکم خپل سره	اوهغه	غالب	او پوهه دی
به د دوئ په مینځ کښې پخپل حکم فیصله اوکړی	اوهغه غالب ذات دی	او پوهه دی			
فَتَوَكَّلْ	عَلَى اللَّهِ ۖ	إِنَّكَ	عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴿٧٩﴾	إِنَّكَ	لَا تُسْمِعُ
پس بروسه کوه	په الله باندې	بیشکه ته	په حق ښکاره باندې ئې	بیشکه ته	نشې اورولې
نوته په الله ﷻ باندې بهروسه کوه	بیشکه ته په واضحه حق باندې یئ	بیشکه ته مړو ته خبرې			
الْمَوْتَىٰ	وَلَا تُسْمِعُ	الصُّمَّ	الدُّعَآءَ	إِذَا	وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾
مړو ته	او نشی اورولې	کنړو ته	بلنه (آواز)	کله چې	واپس اوګرزی دوئ شاکونکی
نه شې آورولې	اونه کونړ ته آواز آورولې شې	څه وخت چې هغوئ شاکړی اوروان شی			

(۱) ۱۳/الرعد:۱۰.
(۲) ۲۰/طه:۷.
(۳) ۱۱/هود:۵.

Scanned with Ca

وَمَآ	اَنْتَ	بِهٰدِى	الْعُمْىِ	عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ	اِنْ تُسْمِعُ
اونه نې ته	لارښودونکې	رندو ته	چې بچ نې کړي	دګمراهئ دهغوئ نه	نه شي اورولې ته
اوته رندو ته چې په ګمراهئ کښې پراته دی لاره نشي خودلې	ته خو صرف هغو خلقو				
اِلَّا	مَنْ	يُّؤْمِنُ	بِاٰيٰتِنَا	فَهُمْ	مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾
مګر	هغه چاته	چې ايمان راوړي	په آيتونو زمونږ	پس هغوئ	مسلمانان) حکم منونکی) دی
ته اورول کولې شې	چې زمونږ په آيتونو باندې ايمان راوړي	اوهغوی تابعدار وی			

قوله تعالی:- اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

دحق اوباطل ف یصله کونکي قرآن پاک دي:-دقرآن پاک هدايت بيانولې شی چه په دې کښې کوم څائ رحمت دې هلته فرقان هم دې اوهلته دبنی اسرائيلويعنی دتورات اودانجيل دحاملانوداختلاف فيصله هم ده. لکه چه دعيسی ﷺ باره کښې چه يهوديانودشليدلې خُلې خبره اوخراب تهمت لګولی وو او عيسايانوهغوی د دوی د حد نه زيات وړاندې کړی وو. قرآن پاک فيصله اوکړه او د افراط اوتفريط يعنې کمی زياتی پريخودو سره ئی حق خبره اوخودله چه هغه د الله تعالی بنده اود هغه رسول دې هغه د الله تعالی په حکم سره پيداشوې دې د هغه مور ډيره پرهيزګاره ده صحيح او بالکل بې شکه او صفاخبره هم دا ده. اودا قرآن پاک د مؤمنانود زړونوهدايت دې اود هغوی د پاره سراسر رحمت دې. د قيامت په ورځ به الله تعالی د هغوی فيصلې کوی چه د بدلې په اخستوکې غالب دې اود بنده د اقوالو اواعمالو نه خبردې.

قوله تعالی:- فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ

تاله هم په هغه باندې کامل يقين ساتل پکاردی د خپل رب په تبليغ کښې کوتاهی نه دی کول پکار. ته سراسر په حقه ئی مخالفين ازلی بدبخته دی په هغوی باندې ستا د رب خبره په صدق سره راغلې ده چه دوی ته به ايمان نه نصيب کيږی سره د دې چه که ته هغوی ته ټولې معجزې هم اوښائې. ته مړو ته فانده ورکونکې خبرې نه شې کولې ته صرف هغوی ته اورولی شې يعنی قبلوی به ئی صرف هغوی چه غوږ کيږدی واوری او زړه اولګوی ځان پوهه کړی دې سره ايمان اواسلام په هغوی کښې وی. د الله تعالی اورسول الله ﷺ منونکی وی د الله تعالی د دين قائل او عامل وی.

وَاِذَا	وَقَعَ	الْقَوْلُ	عَلَيْهِمْ	اَخْرَجْنَا	لَهُمْ
او کله چې	راشی	خبر دپوره کيدو دوخت	په هغوئ باندې	نو رااوبه باسو مونږ	دپاره دهغوئ
اوهرکله چې (دالله د عذاب)وعده د دوئ په حق کښې پوره شی	نو مونږ به د دوی دپاره د زمکې				
دَآبَّةً	مِّنَ الْاَرْضِ	تُكَلِّمُهُمْ ۙ	اَنَّ النَّاسَ	كَانُوْا	بِاٰيٰتِنَا
يو ځناور	دزمکې نه	چې خبری به کوی دهغوئ سره	اچې بيشکه خلق	وو	په آيتونو زمونږ
نه يو ځناور راوباسو	چې خبرې به ورسره کوی	چې دې خلقو زمونږ په آيتونو يقين			
لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع					
چې يقين به نې نه کولو					
نه لرلو					

Scanned with Ca

قوله تعالی:- وَاِذَاوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَالَهُمْ دَآبَّةً

د قیامت نخښې اود دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ) تذکره او دې کښې اقوال:- دکوم څناور چه دلته ذکر دې دا دخلقو بالکل ورانیدو دالله تعالی د دین پریخودو په وخت کښې آخری زمانه کښې ښکاره کیږی اوخلقو به حق دین بدل کړې وی.بعضې وائی چه دابه مکه مکرمه کښې راوخی اوبعضې وائی یوبل ځای نه راوخی چه د هغې تفصیل اوس راځی ان شاء الله. هغه به وینا کوی خبرې به کوی او وائی به چه خلقو به د الله تعالی د آیاتونو یقین نه کولو. ابن جریر رحمه الله هم دامختار ګڼړی خوپه دې قول کښې نظردې. والله اعلم. ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه هغه به دا زخمی کوی یوبل روایت کښې دی چه چه هغه به دا اودا دواړه کوی. داقول ډیر ښه دې او په دواړوکښې څه منافات نشته. والله اعلم. هغه احادیث او آثار چه د دابة الارض باره کښې نقل دی په هغې کښې مونږ څه دلته بیانوو. والله المستعان.

د(دَآبَّةً الْاَرْضِ) متعلق احادیث او اقوال:-[اول قول] صحابه کرام رضی الله عنهم یوځل ناست وو د قیامت ذکر نی کولو.رسول الله ﷺ د عرفات نه تشریف راوړو مونږ نی په ذکر کښې مشغول اولیدلونووئی فرمانیل چه قیامت به نه قائمیږی ترکومې چه تاسو لس نښې نه وی لیدلې. د نمر د مغرب نه راوتل، لوګې، دابة الارض،یاجوج ماجوج راوتل، د عیسی علیه السلام بن مریم راوتل، اود دجال راوتل او په مغرب مشرق او جزیره عرب کښې درې ځل تندر کیدل اود یواُور دعدن نه راوتل چه د خلقو حشر به کوی هم دې سره به شپه تیریږی اوهم دې سره به د غرمې اوده کیدل کیږی. (۱)

دویم قول:-ابوداؤدطیالسی کښې دی دابة الارض به درې ځل راوخی د لرې څنګل کښې به ښاراود هغې ذکر به ښکار یعنی مکې ته نه رسی. بیا به د یوې اوږدې زمانې نه پس ښکاره کیږی اود خلقو په ژبو به دده قصه راشی تردې چه مکې ته به هم د ده خبرراورسی.بیاچه کله خلق د الله ﷻ ټولونه زیات د حرمت اوعظمت مسجدحرام کښې وی هم هغه وخت به ناڅاپی اوډیر زر دابة الارض هغوی ته هلته ښکاره شی د رکن او مقام په مینځ کښې کښې به د خپل سرنه خاوری څنډی خلق چه دې وینی نو اخوا دیخوابه شی دې به د مؤمنانوډلې له لاړ شی اود هغوی مخونه به د پرقیدونکی ستوری په شان روښانه کړی نه د هغه نه په تیخته څوک بچ کیدې شی نه په پټه پاندې تردې چه یوسړې به په مانځه اودریږی او دهغه نه به پناه غواړی. دې به دهغه شاته راشی وائی به اوس مانځه ته اودریدې؟بیابه د هغه په تندی باندې کرښه اوکړی اولاړبه شی.د ده د نښې لګولو سره به کافراومؤمن په صفاتوګه ښکاری.تردې چه مؤمن به کافرته وائی اې کافره زما حق اداکړه اوکافر به مؤمن ته وائی اې مؤمنه زماحق اداکړه.دا روایت د حذیفه بن اسید رضی الله عنه نه موقوفًا هم نقل دې.

دریم قول:-یوروایت کښې دی چه دا به دعیسی علیه السلام په زمانه کښې وی په هغه وخت کښې هغه دبیت الله طواف کوی. خود دې اسناد صحیح نه دی.

څلورم قول :-په صحیح مسلم کښې دی چه د ټولونه اول به کومه نښه ښکاره کیږی هغه د نمر د مغرب نه راوتل دی د دابة الارض د ضحی په وخت کښې راتلل دی. په دې دواړو کښې چه کوم یو اول وی دویم به د دې نه پس وی. (۲)

پنځم قول:-په صحیح مسلم کښې دی حضور ﷺ اوفرمانیل دشپږوځیزونونه وړاندې وړاندې نیک اعمال اوکړئی. د نمرد مغرب نه راوتلونه،د لوګی راتلل، د دجال راتلل، د دابة الارض راتلل او په تاسو کښې دهریوخاص امر اوعام امر(۱) داحدیث په نورو اسنادو سره په نورو کتابونوکښې هم شته.(۲)

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الفتن باب فی الایات التی تکون قبل المساعة:۲۹۰۱، ابوداؤد:۴۳۱۱، ترمذی ۲۱۸۳، ابن ماجه:۴۰۴۱،احمد:۶/۴،ابن حبان: ۶۸۴۳. (مسلم وغیره)

(۲) صحیح مسلم کتاب الفتن باب فی خروج الدجال ومکثه فی الارض:۲۹۴۱، ابوداؤد:۴۳۱۰، ابن ماجه:۴۰۶۹.

Scanned with Ca

شپږم قوم:- ابوداؤد طیالسی کښې دی حضور ﷺ فرمائی دابة الارض سره به د حضرت موسی ﷺ همساوی اودحضرت سلیمان ﷺ گوتمه وی دکافرانو په پوزه باندې په همساسره ننبه لګوی اود مؤمنانومخ به په گوتمه باندې منور کوی تردې چه په یو دسترخوان باندې ناست مؤمنان اوکافران به ټول ښکاره شی. (۳)

اووم قول:- په یوبل حدیث کښې چه په مسنداحمدکښې نقل دې چه د کافرانو په پوزه به په گوتمه سره مهرلګوی اود مؤمنانومخونه به په همسا سره روښانه کوی. (۴)

اتم قول:- ابن ماجه کښې د حضرت بریده ﷺ نه روایت دې زه رسول الله ﷺ سره د مکې خواکې یو ځنګل ته لاړم. ماوکتل چه یو اوچه زمکه ده د کومې ه چاپیره چه شګه ده وئی فرمائیل چه هم دې ځان نه به دابة الارض راوځی. حضرت بریده ﷺ وائی چه زه ځوکاله پس حج له لاړم نومالرګې اولیدو چه زما د دې لرګی برابروو. (۵)

نهم قول:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د دې به ځلور پښې وی اود صفاد کندې نه به راوځی دومره په تیزئی سره به راوځی لکه چه یوډیر تیز اس خو بیابه هم په دریوورځوکښې د ده د بدن دریمه حصه نه وی راوتلې.

لسم قول: دعبدالله بن عمرو ﷺ نه چه کله د دې باره کښې تپوس اوشونوهغوی اوفرمائیل چه په جیاد کښې یوغردې دهغې دلاندې نه به راوځی. که زه هلته ووم نو مابه تاسوته داغرخودلې وودې به نیغ د مشرق طرف ته ځی اودومره په زوره به ځی چه هریوطرف ته به د ده آواز رسی بیا به د شام طرف ته ځی هلته به هم چغه وهی اودیمن طرف ته به ځی دلته به هم چغه اووهی اودمابنام په وخت کښې به دمکې نه لاړشی اوسحربه عسفان ته اورسی. خلقو تپوس اوکړو بیا په څه کیږی هغه وئیل بیا ماته پته نه لګی

یوولسم قول:- دعبدالله بن عمر ﷺ قول دې چه د مزدلفه په شپه به راوځی.

دولسم قول:- دحضرت عزیر ﷺ دکلام یو حکایت دې چه د سدوم د لاندې نه به راوځی د ده خبرې به ټول اوری. دحامله حمل به د وخت نه وړاندې پریوځی خوږې اوبه به ترخې شی دوستان به دښمنان شی حکمت به اوسوزی علم به اوچت کړې شی د لاندې زمکه به خبرې کوی د انسان به هغه خواهشات وی چه کله به هم نه پوره کیږی. د هغه ځیزونو به کوشش وی چه کله به هم نه حاصلیږی. د هغې باره کښې به کارکوی چه کوم چه به خوری هم نه.

دیارلسم قول:- ابوهریره ﷺ فرمائی چه د هغه په بدن باندې به ټول رنګونه وی. د ده د دوو ښکرو په مینځ کښې د سور د پاره د یوفرسخ لاروی.

څوارلسم قول:- ابن عباس ﷺ فرمائی چه دابه د پیړې نیزې او چړې په شان وی.

پنځلسم قول:- حضرت علی ﷺ فرمائی د ده به ویښته وی نوکې به ئی وی ږیره به ئی وی لکې به ئی نه وی. دریوورځوکښې به په مشکله دریمه حصه رابهرشی سره د دې چه د تیز اس په شان به روان وی.

شپاړسم قول:- دابن زبیر ﷺ قول دې د ده سر به د غوائی دسر په شان وی سترګې به ئی دخنزیرد سترګو په شان وی غوږونه به ئی د هاتهی په شان وی د ښکرو ځائ به ئی د اوښ په شان وی د شترمرغ په شان ست به ئی وی د زمری په شان به ئی سینه وی د شرمخ په شان رنګ به ئی وی د پیشو په شان ملا به

---

۱) صحیح مسلم کتاب الفتن باب فی بقیة من احادیث الدجال:۲۹٤۷، احمد:۲/۳۲٤، ابن حبان:٦۷۹۰.
۲) ابن ماجه کتاب الفتن باب الایات:٤۰۵٦وسنده حسن.
۳) مسندالطیالسی:۲۵٦٤.
٤) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة النمل:۳۱۸۷
۵) ۳۷/الصافات:۲۲.

ئی وی دگه په شان لکئی به ئی وی.د اوښ په شان به ئی پښې وی د هرو دوواندامونو په مینځ کښې به ئی ددولسو گزو فاصله وی.دموسی ﷺهمسااودحضرت سلیمان ﷺگوتمه به ورسره وی. د هریومؤمن په تندی به د موسی ﷺ په همساباندې نښه کوی چه خوریږی به اود هغه مخ به روښانه کړی اود هر کافرپه مخ به په سلیمانی گوتمه باندې نښه لګوی چه خور به شی او ټول مخ به ئی تورشی. اوس به مؤمن اوکافر داسې ښکاره شی چه د اخستلو اوخرڅولو په وخت کښې د خوراك څښاك په وخت کښې خلق به یویل ته ای مؤمن اوای کافر وئیلو سره رابلی. دابة الارض به د یویو نوم اخلی هغوی ته به د جنت زیرې اویا د دوزخ بدخبرورکوی. ددې آیت هم دا معنی اومطلب دی.

وَيَوْمَ	نَحْشُرُ	مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ	
او یاده کړئ هغه ورځ | چې راجمعه به کړو مونږ |			دهر امت نه
| او په کومه ورځ چې مونږ د هر یو امت نه د هغې خلقو یوه ډله راغونډه کړو			
فَوْجًا	مِّمَّنْ	يُكَذِّبُ	بِآيَاتِنَا	فَهُمْ	يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾
یوه ډله | دهغه چانه | چې دروغ به ئې ګنړل | ایتونه زمونږ | بیا به هغوئ | په ترتیب کړې شی					
چې زمونږ ایتونه ئې دروغ ګنړل | .....نوهغوئ به ډلو کښې تقسیم کړې شی					
حَتَّىٰ	إِذَا	جَاءُوا	قَالَ	أَكَذَّبْتُم	
تر هغې پورې | کله چې | راشی هغوئ ټول یو ځاني ته | نو اوبه وائی الله | آیا دروغ ګنړلی وؤ تاسو					
تردې چې کله هغوئ (زمونږ دربار ته) راشی |نو الله ﷻ به اوفرمائی چې آیا تاسو زما ایتونه دروغ ګنړل					
بِآيَاتِي	وَلَمْ تُحِيطُوا	بِهَا	عِلْمًا	أَمَّاذَا	
ایتونه زمونږ | او حال دا چې تاسو احاطه نۀ وه کړی |په هغې باندې | په لحاظ دعلم سره | یا څه کار وؤ					
حالانکه تاسو پرې څان پوه کړې هم نه وو (بلکه بغیرد علم نه انکار کولو) | آیا (ددې نه علاوه)					
كُنتُمْ	تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾	وَوَقَعَ	الْقَوْلُ	عَلَيْهِم	بِمَا
چې وئ تاسو | چې کوو به مو | او رابه شی | خبره دعذاب | په هغوئ باندې | په سبب دهغې					
مو نورځه څه(خراب) کارونه کول | اود هغوئ د ظلم په وجه به د هغوئ په حق کښې به (زمونږ د)					
ظَلَمُوا	فَهُمْ	لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾	أَلَمْ يَرَوْا	أَنَّا	
چې ظلم اوکړو هغوئ | پس هغوئ | به څه وئیلې نۀ شی | ایا نۀ ګوری دا خلق | چې بیشکه مونږه					
د عذاب وعده پوره شی | اوهغوئ به خبرې هم نشی کولې | آیا دوئ اونه لیدل چې مونږ					
جَعَلْنَا	اللَّيْلَ	لِيَسْكُنُوا	فِيهِ	وَالنَّهَارَ	مُبْصِرًا ۚ
جوړه کړه | شپه | دپاره ددې چې ارام اوکړی | په هغې کښې | او ورځ | روښانه					
د دوی د ارام دپاره شپه جوړه کړه ده | او ورځ مو (د کار کسب دپاره) روښانه جوړه کړې ده					
إِنَّ	فِي ذَٰلِكَ	لَآيَاتٍ	لِّقَوْمٍ	يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾	
بیشکه |په دې کښې|خامخا نښې دی |دپاره دهغه قوم |چې ایمان راوړی |					
بیشکه په دې کښې هغو خلقو دپاره نخښې دی چې ایمان راوړی |					

Scanned with Ca

قوله تعالی:- وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا

د اد حشر میدان دي:- د الله ﷻ خبرې نه منونکو به د الله ﷻ په وړاندې حشر وی اوهلته به په هغوی باندې غصه اورتنه کولې شی دې دپاره چه دهغوی دلت اوخواری اوکړې شی.دهرقوم نه به دهرې زمانې داسې خلق ډلې ډلې جدا جدا پیش کیږی لکه چه ارشاد دي ﴿اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ﴾(۱) ظالمان اودهغوی جوړې راجمع کړئی لکه چه بل ارشاد دي ﴿وَاِذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ﴾(۲) کله چه د نفسونو جوړې ملاوولې شی دا ټول به یوبل ته دیکې ورکوی داول والا به دآخروالا ردکوی.ټول په ټول به د ځناورو په شان راشړلې شی اوداالله تعالی مخکې به راوستلې شی.دهغوی په حاضریدوسره به هغه حقیقت انتقام اخستونکې په ډیره زیاته غصه کښې دهغوی نه تپوس کوی دوی به دنیکونه خالی لاس وی.لکه چه ارشاد دي ﴿فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى﴾(۳) یعنی نه هغوی صداقت کړې وو اونه نې مونځونه کړی وو بلکه دروغ ئی ګنړلې وو اومخ ئی اړولې وو.نوپه هغوی باندې به حجت قایم شی او هیڅ عذر به اونه کړې شی. لکه چه ارشاد باری تعالی دي ﴿هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ﴾(۴) دا به هغه ورځ وی چه نه به خبرې کولې شی اونه به څه معقول عذر پیش کولې شی اونه به د غیرمعقول عذراجازت ورکولې شی.نود هغوی په ذمه باندې به خبره ثابته شی.حیران اوپریشان به وارخطا ولاړ وی اودخپل ظلم به بدله بدله بیامومی.په دنیاکښې ظالمان وو اوس چه دچا په وړاندې ولاړدی هغه عالم الغیب دي که څه خبره جوړوی نو جوړه به نه شی.

قوله تعالی:- اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ط

د الله ﷻ دقدرت دلائل:- بیادخپل کامل قدرت بیان فرمائی اوخپل اوچت شان بنائی اوخپل عظیم الشان سلطنت بنائی چه کولاو دلیل دې د هغه د تابعدارئی په فرضیت باندې اود هغه حکمونه په خاې راوړلو باندې اود هغه د منع کړې شوی کارونو نه د بندیدلو په ضرورت باندې اود هغه د انبیاوکرامو د ربښتیاو په اصلیت باندې چه هغه شپه د آرام جوړه کړه دي د پاره چه تاسو په هغې کښې آرام حاصل کړئی اود ټول ورځې ستړیوالې ختم کړئی اوورځ ئی رنړا کړه دي د پاره چه تاسو د خپل روزګار لټون اوکړئی د تجارت سفر اوروزګار په آسانئی سره اوکړې شئی. دا ټول څیزونه خود یومؤمن د پاره د کافی نه هم زیات دلیل دي.

وَيَوْمَ يُنْفَخُ	فِي الصُّوْرِ	فَفَزِعَ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ
اویادکړه هغه ورځ چې پوکې به اووهلې شی|په صور(شپلئ)کښې|نواوبه یریږی|هغه څوک|چه په آسمانونوکښې دی				
او په کومه ورځ چې شپیلئ پوک وهلې شی	..... .نو څوک چې په آسمانونو او په			
وَمَنْ	فِي الْاَرْضِ	اِلَّا مَنْ	شَآءَ اللّٰهُ ط	وَكُلٌّ
او هغه څوک	چې په زمکه کښې دی	بغیر دهغه چانه	چې اوغواړی الله (بچ کول دهغه)	او ټول به
زمکه کښې موجود دی هغه ټول به اوویږیږی	مګرهغه څوک چې الله ﷻ ئې اوغواړی			او ټول به ورته

---

۱) ۳۷/الصافات:۲۲.
۲) ۸۱/التکویر:۷.
۳) ۷۵/القیامة:۳۱-۳۲.
۴) ۷۷/المرسلات:۳۵-۳۶.

Scanned with Ca

اَتَوْهُ	دٰخِرِيْنَ ﴿۸۷﴾	وَتَرَى	الْجِبَالَ	تَحْسَبُهَا	جَامِدَةً
راشی هغه ته	عاجزه	او (ته) وینې ته	غرونه	ته ګمان کوې په هغې	دمضبوطوالی
د فکر نه زوړند راروان وی	اوته چې غرونو ته ګورې نو دا خیال به کوې	چې په ځائې ولاړ دی			
وَهِيَ	تَمُرُّ	مَرَّ السَّحَابِ ؕ	صُنْعَ اللّٰهِ	الَّذِيْٓ
حالانکه دا غرونه	به تیریږی (الوزی)	پشان دالوتلو دوریځې	دا کار نامه ده دالله	دهغه الله
حال دا چې دا غرونه به لکه د وریځو غوندې الوزی	.....	دا د الله ﷻ کاریګری ده		
اَتْقَنَ	كُلَّ شَيْءٍ ؕ	اِنَّهٗ	خَبِيْرٌ	بِمَا	تَفْعَلُوْنَ ﴿۸۸﴾
چې محکم ئې جوړ کړې دی	هر څیز	بیشکه هغه	خبر دی	په هغه کارونو	چې تاسو ئې کوئ
چې هر څیز ئې ډیر مضبوط جوړ کړې دی	هغه ستاسو په کارونو ښه خبر دی				
مَنْ	جَآءَ	بِالْحَسَنَةِ	فَلَهٗ	خَيْرٌ	مِّنْهَا ۚ	وَهُمْ
هغه څوک	چې راشی	دنیکئ سره	نو مقرر ده هغه لره	بهتره بدله	دهغې نه	او دغسې خلق به
څوک چې (زمونږ دربار ته) نیکی راوړی	نوهغه ته به د هغې نه غوره اجر ورکړې شی	اوداسې خلق به				
مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ	اٰمِنُوْنَ ﴿۸۹﴾	وَمَنْ	جَآءَ	بِالسَّيِّئَةِ
دیرې	دهغه ورځې نه	محفوظ وی	او هغه څوک	چې راشی	دبدئ سره
د دغې ورځې دویرې نه په امن کښې وی	.....	اوڅوک چې ګناه اوکړی		
فَكُبَّتْ	وُجُوْهُهُمْ	فِي النَّارِ ؕ	هَلْ تُجْزَوْنَ
نو نسکور به اوغورزولې شی	مخونه دهغوئ	په وور کښې	نه درکړې کیږی تاسو ته	
نوپرمخې به په دوزخ کښې غوزار کړې شی	(او وئیلې به شی) چې تاسو ته صرف دهغو			
اِلَّا	مَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۰﴾
مګر	هغه	چې وئ تاسو	چې کول به مو	
عملونو سزا درکولې شی کوم چې تاسو دنیا کښې کول				

قوله تعالی:- وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ

د قیامت څو نورې نخښې:- الله تعالی د قیامت ویره او دهغې بې آرامی بیانوی په شپیلئی کښې به حضرت اسرافیل ﷺ دالله تعالی په حکم باندې پوکې وهی هغه وخت به په زمکه ډیر خراب خلق وی د ډیر وخته پورې به شپیلئی وهی کوم سره چه به ټول پریشان حال شی. بغیر د شهیدانونه چه دالله تعالی په نیز ژوندی دی او رزق ورکولې شی. د عبدالله بن عمرو ﷺ نه یوه ورځ یوسړی تپوس اوکړوچه دا ته څه فرمائې چه دومره دومره وخت پورې به قیامت راشی. هغوی سبحان الله یا لااله الاالله یا څه بل څه کلمه چه د حیرانتیا په وخت کښې د تعجب په وخت کښې وئیلې شی اوفرمائیله ونی واوره اوس خو مې زړه غواړی چه چاته یوحدیث هم بیان نه کړم. مادا وئیلې وو چه زر به لوئې لوئې اهمې خبرې اووینئی بیت الله به خراب شی اودا به وی او دابه وی وغیره. د رسول الله ﷺ فرمان دی چه دجال به زما په امت کښې څلویښت حصار وی زه په دې نه پوهیږم چه څلویښت ورځې یا څلویښت میاشتې او یاځلویښت کاله به وی. بیا به الله تعالی (حضرت عیسی ﷺ رانازل کړی) هغه به په شکل کښې بالکل د عروه بن

مسعود ﷺ په شان وی هغه به دا اولټوی او هلاک به ئی کړی. بیا به اووه کاله داسې وی چه په هرو دوو کسانوکښې به بغض اودښمنی وی.بیا به الله تعالی د شام دطرف نه یوه ښکلې ښکلې هواراوچلوی چه دې سره به هریومؤمن وفات شی اود چا په زړه کښې چه د یوې ذرې برابر ایمان هم وی د هغه روح به هم قبض کړې شی.تردې که څوك د غرپه ډډکښې هم ورننوځی نودا هوابه هلته هم لاړه شی اوهغه به هم هلته فناه کړی. اوس به په زمکه باندې بدخلق پاتې سی چه د مرغو په شان سپك او خناورو غوندې بې عقله وی.دهغوی نه به د نیکئی اوبدئی تمیز کول پاسی هغوی له به شیطان راورسی اووائی به چه تاسوشرمیږئی نه چه د دې بتانوعبادت مو پریخې دې؟دوی به بت پرستی شروع کړی الله ﷻ به دوی ته رزق رسوی اوخوشحاله به ئی ساتی. دوی به هم په دې مستئی کښې وی چه د شپیلئی دپوك وهلو حکم به اوشی.دچا په غوږ کښې چه آواز پریوځی هم هلته به اخوادیخوا شی.دټولونه اول به ئی هغه سړې اوری چه د خپلواوښانود پاره به حوض ټیك کوی اوریدو سره به بې هوشه شی اوټول خلق به بې هوشه کیدل شروع شی. بیا به الله تعالی د شبنم په شان باران راووروی په کوم سره چه به دخلقو بدنونه راوټوکیږی بیا به په دویم ځل شپیلئی پوك وهلې شی په کوم سره چه به ټول اودریږی آواز به کولې شی چه خلقو د خپل رب طرف ته روان شئی هلته اودریږئی تاسو نه به سوال جواب کولې شی. بیا به فرمانیلې شی داور حصه تري راوباسه تپوس به کولې شی چه په څومره کښې څومره؟ نواوبه فرمانیلې شی چه هرو زروکښې یوکم زر. دابه وی هغه ورځ چه ماشومان به بوډاګان کړی. دابه وی هغه ورځ چه کله به دپنډنی (درب تجلی) زیارت به کولې شی([1])اولئی شپیلئی خو به د ویرې شپیلئی وی او دویمه دبې هوشه کیدو اودریمه د بیاراژوندی کیدواود رب العالمین په دربارکښې د پیش کیدو.د ﴿أَتَوْهُ﴾ قراءت د الف په مدسره هم نقل دې. هریوبه بې وسه خوارذلیل مجبور د ماتحتومحکوم د الله تعالی په وړاندې حاضریږی. د یونه به هم نه شي کیدلې چه حکم عدولی اوکړی لکه چه ارشاد دې ﴿ يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴾([2])په کومه ورځ چه الله تعالی تاسوراغواړی او تاسو دهغه حمد او ثنا بیانولو سره حکم اومنې. بل آیت کښې دی چه بیا کله هغه تاسو د زمکې نه راوغواړی نوتاسو ټول به اودریږئی راوبه ځئی. د صور په حدیث کښې دی چه ټول روحونه به د صور په سوړه کښې کیخودې شی اوکله چه بدنونه د قبرونونه راټوکیږی صور به پوك وهلې شی روحونه به والوزی د مؤمنانو روحونه به نورانی وی د کافرانو روحونه به د تیارو اوظلمت والاوی. رب العالمین خالق کل به فرمائی چه زما دې په خپل جلال او زما په عزت قسم وی هر یوروح به خپل بدن ته لاړشی. څنګه چه زهر هر یو رګ اوریشې ته رسی دغه شان به روحونه په بدنونوکښې خوراه شی. اوخلق به د خپل خپل ځائ نه سر څنډې راپاسی به. لکه چه اوفرمائیلې شو په هغه ورځ به د قبرونونو نه داسې داسې په تندئی سره راوځی لکه څنګه چه به نی خپلو عبادت خانو له منډې وهلې.دا اوچت غرونه کوم چه ته ولاړ اوکلك ګورې دا به ذره ذره شی د الوتونکی اوریځو غوندې اخوادیخوا خورې شی. اودا به ته روان اووینی او آخربه ریزه ریزه شی او بې نوم اوبې نښې به شی. زمکه به د صفاتلی په شان بې ښکته پورته شی. د صفت دې د هغه صناع یعنی جوړونکی چه د هغه هریوصنعت د حکمت والا مضبوط پوخ او اوچت دې.دچا چه اوچت اواعلی قدرت په پوره توګه په انسانی پوهه کښې نه شی راتلې. دبندیګانو د ټولو اعمال خیراوشر نه هغه خبر دې. دهریوفعل اوکار سزا اوبدله به ضرور ورکوی.د دې اختصار نه پس ئی تفصیل بیانولوسره اوفرمائیل چه نیکی اود توحید اخلاص څوك راوړی هغه به د یوپه بدله کښې لس

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الفتن باب ل خروج الدجال ومکثه فیالارض ونزول عیسی ﷺ وقتله ایاه...:۲۹۰٤، السنن الکبری للنسائی:۱۱٦۲۹، احمد:۲/۱٦٦،ابن حبان:۷۳۵۳.

[2]) ۱۷/الاسراء:۵۲.

بدلې اخلی اود هغه ورځې دخطرې نه به بې ویرې وی.اوخلق به په ویره کښې په عذاب کښې وی دې به په امن اوثواب کښې وی. په اوچتو اوچتو بالاخانوکښې به په راحت اواطمینان کښې وی. اود چا چه بدئی او بدئی وی یاد چا بدئی د نیکونه زیاتې وی د هغې بدله به ملاویږی. د خپلو خپلو کړو بدله به اخلی.د اکثرو مفسرینونه نقل دی چه د بدئی نه مراد شرك دې.

					إِنَّمَآ	أُمِرْتُ
					بیشکه هم دا خبره ده	چې ماته حکم شوې دې
					ماته خو صرف دا حکم شوې دې	
أَنْ	أَعْبُدَ	رَبَّ	هٰذِهِ	الْبَلْدَةِ	الَّذِي	حَرَّمَهَا
چې زهٔ بندګی اوکړم	درب	ددې	ښار	هغه رب	چې حرم ئې جوړ کړې دهغې نه	
چې زه د دې ښار (مکې) د مالک عبادت اوکړم	چا چې دې ښار ته عزت ورکړې دې					
وَلَهٗ	كُلُّ شَيْءٍ	وَّأُمِرْتُ	أَنْ	أَكُوْنَ	مِنَ	الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۹۱﴾
او هغه لره دې	هر څیز	او ماته حکم شوې دې	چې شم زهٔ	دمسلمانانو(غاړه ایښودونکو) نه		
اوهر څه د هغه دی	.....اوماته دا حکم شوې دې چې (دهغه) د تابعدارو ځنې شم					
وَأَنْ	أَتْلُوَا	الْقُرْاٰنَ	فَمَنِ	اهْتَدٰى	فَإِنَّمَا	
او چې اوروم (خلقوته)	قرآن	پس هغه چا	چې صحیح لار بیا مونده	نو بیشکه		
اورد دې حکم راته هم شوې دې) چې دا قرآن پاک دې اوروم	نوڅوک چې په نیغه لار روان شی	انو د				
يَهْتَدِيْ	لِنَفْسِهٖ	وَمَنْ	ضَلَّ	فَقُلْ		
هغه صحیح لار مومی	دپاره دفائدې دخان خپل	او هغه څوك	چې بې لارې شو	نو اووایه		
خپلې فائدې دپاره به ئې وی	اوڅوک چې ګمراه پاتې شی	نو ته اووایه چې زهٔ خوصرف				
إِنَّمَآ	أَنَا	مِنَ	الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۹۲﴾	وَقُلِ	الْحَمْدُ لِلّٰهِ	
چې بیشکه	زهٔ	دخبردارونکو نه یم	او اووایه	چې ثنا خاص الله لره ده		
دالله ﷻ د نافرمانئ دانجام نه) ویرونکې یم	اودا اووایه چې ټول تعریفونه د الله ﷻ دپاره دی					
سَيُرِيْكُمْ	اٰيٰتِهٖ	فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ	وَمَا رَبُّكَ	بِغَافِلٍ		
زر به اوښائی تاسو ته	نښې خپلې	پس اوبه پیژنئ تاسو هغه	اونهٔ دې رب ستا	ناخبره		
اوهغه به درته ډیر زر خپلې نخښې اوښائی	نوتاسو به ئې ښې اوپیژنئ	او ستا رب ستاسو				
عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾ ع					
دهغه کارونو نه	چې تاسو ئې کوئ					
دکارونو نه بې خبره نه دې						

Scanned with Ca

قوله تعالی:- إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ

د کعبه عزت اوحرمت او توحید بیان:- الله ﷻ خپل عزت منذنبی کریم ﷺ ته فرمائی چه تاسو ﷺپه خلقو کښې اعلان اوکړئی چه زه د دې مکې دښارد رب دعبادت اودهغه د حکم منلومامورېم. لکه چه ارشاد دې چه اې خلقو که ستاسو زما په دین کښې شك وی نو وی دې زه خو به د چاچه تاسو عبادت کوئی کله هم د هغوی عبادت اونه کړم. زه هم د هغه رب تعالی عبادت کونکې یم کوم چه ستاسودمرګ او ژوندمالك دې.دلته دمکې طرف ته د ربوبیت اضافت صرف دبزرګئی اوعزت د اظهار دپاره دې.لکه چه فرمائیلی دی ﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ﴾ (۱) دوی له پکاردی چه ددې ښارد رب ﷻ عبادت اوکړی چاچه دوی د نورو خلقو د اولګې په وخت کښې ماړه اود نورو د ویرې په وخت کښې بې ویرې اوساتل. دلته فرمائی چه دانښار دحرمت اوعزت والا هم هغه جوړکړې دې.لکه بخاری اومسلم کښې دی حضور ﷺ د مکې د فتح په ورځ اوفرمائیل چه دا ښار د هغه وخت نه د حرمت دې کله نه چه الله ﷻ آسمان اوزمکه پیداکړی دی. دې ته به د الله ﷻد حرمت ورکولوسره هم د حرمت والا وی تر هغه وخته پورې چه قیامت راشی مه ددې ازغی پریکوئی مه ددې ښکار ویروئی مه په دې کښې د چا پریوتلې څیزاوچتوئی اوچه څوك ئی اوپیژنی اومالك ته ئی رسول غواړی دهغه دپاره جائز دی.ددې وانبه هم مه پریکوئی الخ (۲) داحدیث په ډیروسندونوسره په ډیروکتابونوکښې نقل دې لکه چه د احکامو په کتابونو کښې تفصیل موجود دې.وللہ الحمد.بیاد هغه خاص څیز ملکیت ثابتولوسره خپل عام ملکیت ذکر فرمائی چه د هرڅیز رب اومالك هم هغه دې د هغه نه بغیرڅوك نه مالك دې نه معبود.

قوله تعالی:- وَأَنْ أَتْلُوَا الْقُرْآنَ

درسول کریم ﷺ د رسالت بیان:-اوماته هم داحکم دې چه زه موحد مخلص تابعداراوحکم منونکې شم.اوماته دا هم فرمائیلې شوی دی چه خلقو ته دالله تعالی کلام اورولوسره واوروه. لکه چه فرمان دې مونږ دا آیاتونه اودا حکمت ذکر ستا په وړاندې تلاوت کوی.بل آیت کښې دی چه مونږ تاته د موسی ﷺ اود فرعون صحیح واقعه بیانوو.مطلب داچه زه ربانی تبلیغ کونکې یم زه تاسو رابیداروم تاسو ویروم که زما منئی اوپه نیغه لار راځئی نو هم خپله ښیګړه به کوی اوکه زمانه منئی نو زه به خپل د تبلیغ فرض پوره کړم او اوزګاربه شم. وړاندینورسولانوهم داسې کړې وود الله تعالی کلام ئی اورسولو اوخپله لمن ئی پاکه کړه.لکه څنګه چه ارشاد دې په تاباندې صرف رسول دی حساب زمونږپه ذمه دې. بل ارشاددې چه ته صرف ویرونکې ئی اوپه هرڅیزباندې وکیل هم الله ﷻ دی.دالله تعالی دپاره تعریف دې چه په بې خبرې کښې هغوی ته عذاب نه ورکوی بلکه اول ورته خپل پیغام رسوی خپل حجت ختمه وی بنه اوبد ورته ښائی مونږ به تاسو ته داسې آیاتونه اوښایو چه تاسو به پخپله قائل شئ.

لکه چه ارشاد دې ﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ (۲) مونږبه پخپله ددوی په نفسونوکښې اوددوی نه ګیرچاپیره داسې نښې وراوښایوپه کوموسره چه به هغوی ته حق ښکاره شي.

قوله تعالی:- وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ

الله تعالی لوئې وړوکی یوڅیز هم پټ نه دې:-الله تعالی ستاسو دکړونه غافل نه دې بلکه دهغه علم هر لوئ اوړوکې څیز راګیرکړې دې. دنبی کریم ﷺ ارشاد دې ګورئی خلقو الله تعالی په هیڅ یو کار کښې د عمل نه غافل مه ګنړئی د یویوماشی پویو پتنګ او یویو ذرې نه خبردې. (۱)

---

(۱) ۱۰۶/قریش:۳.

(۲) صحیح بخاری کتاب جزاء الصید باب لایحل القتال بمکة:۱۷۳۴، صحیح مسلم:۱۳۵۳، ابوداؤد:۲۱۸، ترمذی:۱۵۹، ابن حبان:۳۷۲۰، احمد:۳۱۵/۱.

(۳) ۴۱/حم السجده:۵۳.

Scanned with Ca

دعمربن عبدالعزیز رحمه الله نه روایت دي که چرې هغه غافل وي نود انسان د قدمونونه کوم چه هوا ورانوی به ئی غفلت کولو خوهغه د دې نښوهم حافظ او عالم دي. امام احمدبن حنبل رحمه الله به اکثر دا دوه شعرونه لوستل چه یاخوهم د هغوی دی او یا د بل چا دی:

اذاماخلوت الدهریوماًفلاتقل خلوت ولکن قل علی رقیب
ولاتحسبن الله یغفل ساعة ولاان مایخفی علیه یغیب

کله هم چه ته په خلوت اویوازیوالی کښې ئی نوخپل ځان ځان له اویوازې مه ګڼه بلکه خپل رب هم هلته حاضراوناظرګڼه هغه یوساعت هم دچانه غافل نه دي اوِنه څه پټ فنا څیز د هغه د علم نه بهردي.

﴿الحمدلله﴾ د الله تعالی په فضل اواوکرم سره د سورت نمل تفسیرختم شو.

تفسیر د سورت قصص

مسنداحمدکښې حضرت معدی کرب رضي الله عنه فرمائی چه مونږ د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه خواته راغلواوهغه ته مودرخواست اوکړو چه مونږ ته د سورت ﴿طسم﴾ د سلو آیاتونووالا لوستلو سره واوروی. نوهغوی اوفرمائیل چه ماته خودا یادنه دي تاسو لاړشئی دخباب بن ارت رضي الله عنه نه واورئی هغه پخپله درسول الله ﷺ نه اوریدلي دي.مونږ هغوی رضي الله عنهم له لاړواوهغوی مونږ ته دامبارك سورت اولوستلو (۲)

آیاتونه		سورة القصص مكية وهي ثمان وثمانون آية وتسع ركوعات		ركوع ګاني
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۷۲		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکي دي		۹

طٰسٓمٓ ۝۱ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝۲ نَتْلُوْا عَلَيْكَ

ط.س.م | دا ایتونه | دکتاب مبین دی | او رووُ مونږه | تاته |

طسم | دا د یو داسې کتاب ایتونه دی چې ښکاره بیانونکي دي | مونږ تا ته د

مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝۳ اِنَّ

دقیصې دموسی | او دفرعون نه | په حقه سره | دپاره دهغه خلقو | چې ایمان راوړي | بیشکه

مونږ دموسی علیه السلام اود فرعون رښتونی واقعات د هغوخلقو دپاره بیانوو چې ایمان راوړي | بیشکه

فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا

فرعون | لوئي اوکړه | په زمکه کښې | او کړل ئي | اوسیدونکی دهغې | ډلې ډلې

چې فرعون (دمصر) په زمکه کښې ډیر تکبر کړي وو | اود هغې خلق ئي ډلې ډلې کړی وو | چې یوه

يَّسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ

چې کمزوری (ذلیله) کوله به ئي | یوه ډله | دهغوئ نه | ذبحه کول به ئي | خامن دهغوئ |

ډله (بنی اسرائیل) به ئي کمزوري کوله | (په دې طریقه چه) د هغوئ خامن به ئي ذبح کول

---

۱) ابن ابی حاتم.
۲) احمد:۱/۴۱۹ المعجم الکبیر: ۳۶۱۴ حلیه الاولیاء:۱/۱۴۳.

Scanned with Ca

وَيَسْتَحْيٖ	نِسَآءَهُمْ ؕ	اِنَّهٗ	كَانَ	مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝
او ژوندی به ئې پریښودلې	ښځی (جینکی) دهغوئ	بیشکه هغه	وؤ	دفساد کونکونه
اوجینکئ به ئې (د خدمت دپاره) ژوندئی پریښودې	هغه ډیر د فساد کونکو څنی وو			

وَنُرِيْدُ	اَنْ نَّمُنَّ	عَلَى الَّذِيْنَ	اسْتُضْعِفُوْا
اوارادہ لرله مونږه	اچی احسان اوکړومونږه	اپه هغه کسانو باندې	اچی کمزوری (ذلیله) ساتلې شوی وؤ
اومونږ دا غوښتل چې دکومې ډلې زور کمولې شی هغې باندې مهربانی اوکړو			

فِى الْاَرْضِ	وَنَجْعَلَهُمْ	اَئِمَّةً	وَّنَجْعَلَهُمُ	الْوٰرِثِيْنَ ۝
په زمکه کښی	او جوړ کړل مونږ هغوئ لره	امامان	او جوړ کړل مونږه هغوئ	وارثان (دزمکې)
اودوئ (دملک) سرداران جوړکړو	اوهم دوئ (د دې زمکې) وارثان جوړ کړو			

وَنُمَكِّنَ	لَهُمْ	فِى الْاَرْضِ	وَنُرِىَ	فِرْعَوْنَ	وَهَامٰنَ
او چی اقتدار ورکړو مونږ	هغوئ لره	په زمکه کښی	اواوښایو مونږ	فرعون ته	او هامان ته
او په ملک کښې ورته اقتدار ورکړو	.....				.....اوفرعون اوهامان

وَجُنُوْدَهُمَا	مِنْهُمْ	مَّا	كَانُوْا	يَحْذَرُوْنَ ۝
او لښکرو دهغوئ ته	دطرفه دهغوئ نه	هغه څیز	چی وؤ هغوئ	چی یریدل به دهغې نه
اوددوئ لښکرو ته د دې (کمزورو خلقو) دلاسه هم هغه انجام اوښایو دکوم نه چې دوئ ویریدل				

قولہ تعالیٰ:- اِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِى الْاَرْضِ

د فرعونسرکشی او په بنی اسرائیلو باندې ظلمونه : دحروف مقطعه بیان وړاندې تیرشوې دې.دا آیاتونه دی د واضح ښکاره روښانه صفا اوکولاوقرآن پاك.د ټولوکارونواصلیت تیرې شوې او راټلونکې خبرې په دې کښې دی اوټولې رښتیااوښکاره.مونږستاپه وړاندې(اې رسول الله ﷺ)دموسی علیه السلام اوفرعون رښتونې واقعه بیانوو.لکه چه په نوروآیاتونوکښې دی مونږ ستاپه وړاندې بهترین واقعه بیانوو داسې لکه چه ته دهغې دکیدو په وخت کښې هلته موجود وې. فرعون یومتکبر سرکش او بددماغ انسان وو هغه په خلقوباندې ډیره خرابه قبضه لګولې وه اوهغوی ئی په خپل مینځ کښې په جنګ کړې وو او په هغوی کښې اختلاف اچولې وو دې سره ئی هغوی کمزوری کړی وواوپخپله ئی په هغوی باندې په جبر او ظلم سره حکومت کولو خاص کر بنی اسرائیل خو دې ظالم د نیست او نابودکولوارادہ کړې وه. سره د دې چه په مذهبی اعتبارسره هغوی په دغه وخت کښې دټولونه ښه وو. هغه دوی ډیر زیات ذلیل کړې ساتلې وو ټول خراب کارونه به ئی هم د هغوی نه اخستل شپه ورځ به دا غریبانان په بیګارکښې رابنکلې کیدل. په دې باندې به هم دهغه غصه نه یخې ده.دهغوی نارینه اولاد به ئی قتل کولو دې د پاره چه دوی دطاقت والا جوړنه شی اود دې دپاره هم چه دوی ذلیل اوخواروی اوددې ویرې هم چه هغه وئیل چه هم په دوی کښې به د یوماشوم د لاسه زما داسلطنت تباه کیدونکې دې.

قولہ تعالیٰ:- يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ؕ

دذبح سبب:- خبره داسې ده چه کله حضرت ابراهیم علیه السلام دمصردحکومت نه د خپلې بی بی حضرت ساره رضی الله عنها سره روان وو اود دغه ځای سرکش بادشاه حضرت ساره بی بی د خپلې وینځې په توګه د دوی نه واخسته چه هغه الله تعالی د دې کافرنه په حفاظت سره اوساتله اود هغه په دې باندې د لاس اوچتولو

Scanned with Ca

قدرت حاصل نه شو نوهغه وخت حضرت ابراهیم ﷺ دپشنګوئي په توګه فرمائیلی وو زما د اولادنه به دیوهلك په لاس باندې دمصرقوم دا ملك ځی اوددوی بادشاه به دهغه په وړاندې په ذلت سره هلاکیږی. په بنی اسرائیلوکښې داروایت راروان وو اود هغوی په درس کښې هم دا ووکوم چه به قبطیانوهم اوریدوکوم چه د فرعون د قوم نه وو هغوی په دربارکښې مخبری اوکړه کله نه چه فرعون دا ظالمانه او سفاکانه قانون جوړکړوچه د بنی اسرائیلوماشومان قتل کوئی اود هغوی جینکئی پریږدئی. ولې چه رب ته څه منظوروی هغه خو به په خپل وخت کیږی. حضرت موسی ﷺ ژوندې پاتې شواود هغه په لاس ئی دا ظالم ذلیل اوخوارکړو. الحمدلله. فرمائی چه مونږ په دې ضعیفانو اوکمزورو باندې رحم کول غوښتل ښکاره خبره ده چه د الله تعالی غوښتنه خو به پوره کیدل خویقینی دی لکه چه فرمائی ﴿وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ ۙ بِمَا صَبَرُوا ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ﴾(۱) مونږ دا پاتې شوی پریوتلې قوم د هغوی د هرځیز مالك جوړکړو. فرعون د خپل ټول طاقت ښکاره کونه ئی. اوکړه ولې هغه ته خود رب د طاقت اندازه نه وه. آخر دالله تعالی اراده غالب شوه اودکوم یوماشوم د وجه نه چه ئی په زرګونو بې ګناه ماشومانوناحقه وینې توئې کړې هغه ماشوم الله تعالی هم د هغه په غیږ کښې لوئی کړو او هم د هغه د لاسه د هغه لښکرواود هغه د مال اوملك خاتمه اوکړه دې د پاره چه هغه پوهه شی او اومنی چه هغه د الله تعالی یوذلیل مسکین بې لاسه بې پښو غلام وو اود رب په غوښتنه باندې د چاغوښتنه غالب کیدې نه شی. حضرت موسی ﷺ له اود هغه قوم له الله تعالی د مصر حکومت ورکړو اوفرعون چه د چانه ویریدلو هغه مخامخ راغلو ودې تباه اوبربادشو. فالحمدلله.

وَأَوْحَيْنَآ	إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ	أَنْ أَرْضِعِيهِ ۖ	فَإِذَا	خِفْتِ
او اشاره اوکړه مونږه	مور دموسی علیه السلام ته	چې تې ورکړه دۀ ته	نو هر کله چې	اویریږې ته
اومونږ دموسی ﷺ مور ته الهام اوکړو	چې ته دۀ ته تې ورکوه	نو کله چې پرې ته اوویریږې		
عَلَيْهِ	فَأَلْقِيهِ	فِي الْيَمِّ	وَلَا تَخَافِي	وَلَا تَحْزَنِي ۖ	إِنَّا
په دۀ باندې	نو اوغورزوه دې	په دریاب کښې	اومه یریږه ته	اومۀ غمژنه کیږه ته	بیشکه مونږه
نو په دریاب کښې ئې واچوه	اوویریږه مه	او غمژنه کیږه مه	.....		مونږ به دا
رَآدُّوهُ	إِلَيْكِ	وَجَاعِلُوهُ	مِنَ الْمُرْسَلِينَ ۝		فَالْتَقَطَهُ
به واپس راولو دې	تاته	اوجوړونکی یو دۀ لره	درسولانونه		پس راپورته کړو دۀ لره
بچې تاته واپس درکوو	او دې به د خپلو پیغمبرانو نه یو پیغمبر جوړوو				نود فرعون د کور خلقو
اٰلُ فِرْعَوْنَ	لِيَكُونَ	لَهُمْ	عَدُوًّا	وَحَزَنًا ۗ	إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَٰنَ
کورواالو دفرعون	چې شی هغه	دپاره دهغوئ	دشمن	او (سبب) دغم	بیشکه فرعون او هامان
موسی ﷺ (دډریاب نه) راواوچت کړو	چې د هغوئ د دښمنئ اودغم سبب شی				بیشکه فرعون هامان
وَجُنُودَهُمَا	كَانُوا	خَاطِئِينَ ۝	وَقَالَتِ	امْرَأَتُ	فِرْعَوْنَ	قُرَّتُ
او لښکري ددواړو	وؤ	غلط کار کونکی	اواوونیل	ښځې	دفرعون	یخوالې
او د دوئ لښکري ټول غلطکار وو	اود فرعون ښځې اووئیل چې دا		(هلک) زما او ستا دواړو دپاره			

(۱) ۷/الاعراف:۱۳۷.

عَيْنٍ	لِّي	وَلَكَ	لَا تَقْتُلُوهُ	عَسَىٰ	أَن يَنفَعَنَا
دستر کو دې	مالره	او تالره	مه وژنئ دې	کیدې شی	چې فائیده به راکړې مونږ ته
دستر کو یخوالې دې	دې مه قتلوئ	.....	کیدیشی چې مونږ ته فائده راکړې		

أَوْ نَتَّخِذَهُ	وَلَدًا	وَهُمْ	لَا يَشْعُرُونَ ۝	
یا به اونیسو مونږ دهٔ لره	خونې	او هغوئ	نه پوهیدل (په انجام)	
یائې په خویتوب اونیسو	اوهغوئ (په اصل حال) نه پوهیدل			

قوله تعالی:- وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّ مُوسَىٰ أَنْ أَرْضِعِيهِ

څوک چه الله ﷻ بچ کول غواړی هغه څوک هم نه شی وژلې:- روایت دې چه کله دبنی اسرائیلوپه زرګونو بچی قتل کړې شو نوقبطیانوته داویره پیداشوه که بنی اسرائیل ختم شونوچه څومره ذلیل کارونه او بې هوده خدمتونه حکومت دهغوی نه اخلی چرته زمونږ نه ئی وانخلی نوپه دربارکښې غونډه اوشوه او خبره اوترلې شوه چه یوکال ئی وژنئی اویوکال ئی مه وژنئی.حضرت هارون ﷺ په هغه کال باندې پیدا شو په کوم کال چه ماشومان نه شوقتل کولې. ولې موسی ﷺ په هغه کال باندې پیدا شو په کوم کال چه به عام توګه باندې ماشومان د تیغ نه ویستلې شو. ښځو به ګشت کولواود حامله ښځو به ئی خیال ساتلودهغوی نومونه به ئی لیکل د حمل کیدو په وخت به دابنځې ورتلې که جینئی به کیده نو واپس به تلې اوکه هلك به کیدونو زر به ئی جلادیانو ته خبرورکولو. دې خلقو به ښه تیرې چړې راوړې اوهم هغه وخت به راتلل اودمورپلار په وراندې به ئی ماشوم ټکړې ټکړې کولو اوتلل به.دحضرت موسی ﷺ دمور چه کله حمل شو نود عامو خلقو غوندې د هغې حمل نه ښکاریدو اوکومې ښځې چه په دې کار باندې مقررې وې اوخومره دایانې به راتلې چاته هم د حمل پته اونه لګیدله تردې چه حضرت موسی ﷺ پیداهم شو. د هغوی مورته دې وخت کښې ډیره سخته ویره پیدا شوه چه هر وخت به ویریدله اودې ماشوم سره ئی مینه هم دومره زیاته وه چه دیوې موربه هم خپل بچی سره دومره مینه نه وی. په یوه مور باندې څه موقوف دی الله ﷻ د موسی ﷺ مخ داسې جوړکړې ووچه د چانظر په هغه باندې پریوتلود هغه په زړه کښې به ئی محبت کیناستولکه چه د الله تعالی ارشاد دې ﴿وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي﴾[1] ماد خپل خان محبت په تا باندې اچولې وو.اودموسی ﷺ مور بی بی به هروخت په خطره اوویره کښې خفه اوسیدله نواالله تعالی د هغې په زړه کښې خیال واچولوچه په ده باندې پښی څکه اود ویرې په وخت کښې دې په دریاب د نیل کښې لاهوکړه د کوم په غاړه چه د هغې کور وو. دغه شان ئی یوه پیټئی اوصندوقچه جوړه کړه په دې کښې ئی حضرت موسی ﷺ کیخودو. پښی به ئی پرې څکول او په دې کښې به ئی اوده کولو کله چه به څه د ویرې موقعه راتله داصندوق به ئی په دریاب کښې بهیولواوپه پرې باندې ئی هغه ترلې وو دویرې تلو نه پس به ئی هغه رابنکلو.یوځل یوسړې داسې کورته راغلوچه دهغه نه دموسی ﷺ موراوویریدله رامنډه ئی کړه او ماشوم ئی په صندوق کښې واچولو او په دریاب کښې ئی ورلاهوکړو او په تندئی سره پرې ترل هیرشو. صندوق د اوبو چپوسره په تیزئی سره لاړو او په بهیدو بهیدوکښې د فرعون محل سره خواکې تیریدو نووینځو راوچت کړو اود فرعون بی بی له ئی یورو کولاوئی کړو وئی کتل چه په هغې کښې د یونورانی ښائسته مخ والا صحیح سالم ماشوم پروت وو د هغه په کتوسره د هغې زړه د ده د مینې نه ډك شو اود دې ماشوم دې ښکلې شکل د هغې په زړه کښې ځائ اوکړو. په دې کښې هم د رب عزوجل مصلحت وو چه د فرعون بی بی

---

[1] ۲۰/طه:۳۹.

Scanned with Ca

ته نیغه لاراوښانی اود فرعون په وړاندې د ده ویره راوړی اود هغه غرور ختم کړی. نوفرمانی چه ال فرعون داصندوقچه راوچته کړه اوآخر د هغوی د دښمنئی او د غم اوخفګان ذریعه جوړه شوه. محمدبن اسحاق رحمه الله وغیره فرمائی د (لیکون) لام لام عاقبت دې د تعلیل لام نه دې ځکه چه د دوی اراده داسې نه وه.په ظاهره دا ټیك هم معلومیږی.خو معنې ته په کتلوسره که لام د تعلیل لام اوګنړلې شی نوهم په کښې څه حرج نه ښکاری ددې دپاره چه الله تعالی دصندوقچې د اوچتولود پاره د دې وجه نه جوړ کړې وو چه دې د هغوی د پاره دښمن جوړ کړی اود هغوی دغم او خفګان ذریعه ئې جوړکړی. بلکه په دې کښې یود مزې خبره داهم ده چه د چانه هغه بچ کیدو هم د هغوی په سر وراوختلو.هم په دې وجه د دې نه پس ئې اوفرمائیل چه فرعون هامان اود هغه ملګری خطارکاروو.

قدریه ته د عمر بن عبدالعزیز خط:- روایت دې چه عمر بن عبدالعزیز رحمه الله قدریه کوم خلق چه د تقدیر نه منکر دی په یوخط کښې اولیکل چه موسی علیه السلام په وړاندینی علم د فرعون دښمن اود هغه د پاره د غم او خفګان ذریعه وه لکه څنګه د قرآن مجیدد آیت نه ثابته ده خوتاسو وائې چه که فرعون غوښتل نو موسی علیه السلام به د هغه امدادی اودوست وو؟ بیافرمائی چه داماشوم کتلوسره فرعون رانیغ شوچه هسې نه چرته اسرائیلیه ښځې داراغورزولې وی اوچرته داهم هغه نه وی د چا د قتل کولود پاره چه ما په زرګونوماشومان قتل کړل. دې سوچ کولوسره هغه داهم قتل کول غوښتل خود هغه بی بی حضرت آسیه رضی الله عنها د ده سفارش اوکړو. فرعون ئی د هغه د ارادې نه منع کړو چه دامه قتل کوه ممکن ده چه دې زما اوستاد سترګویخوالې جوړشی. فرعون جواب ورکړو چه ستاد سترګو یخوالې خو به وی ولې ماته خود سترګو یخولوهیڅ ضرورت نشته. د الله تعالی شان ته ګورئی چه هم دغه شان اوشو.

آسیه رضی الله عنها ته الله تعالی خپل دین ورنصیب کړو اود حضرت موسی علیه السلام په وجه باندې هغې ته هدایت ملاوشو اودامنکر الله تعالی دخپل نبی په لاس باندې هلاك کړو.د نسائی وغیره په حواله سره د سورت طه په تفسیرکښې فتون په حدیث کښې دا قصه پوره بیان شوې ده. حضرت آسیه رضی الله عنها فرمانی کیدې شی چه دې مونږ ته څه نفع راورسوی د هغې امید الله تعالی پوره کړو. په دنیاکښې حضرت موسی علیه السلام د هغې د هدایت ذریعه جوړشو اوپه آخرت کښې جنت ته د تلو. نور وائی چه داهم کیدې شی چه مونږ دې خپل بچې جوړکړو. د هغې هیڅ اولاد نه وونوغوښتلې چه حضرت موسی علیه السلام په خپل ځوئ سره اونیسی. په دوی کښې په چا کښې هم عقل نه ووچه قدرت څنګه پټه پټه خپله اراده پوره کوی.

وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰی	فٰرِغًا ؕ	اِنْ كَادَتْ	لَتُبْدِیْ بِهٖ	
اوشو زړۀ دمور دموسی	خالی دصبر نه (بې قراره)	نزدې وه	چې ښکاره کړې وې هغې راز دهغې	
اود موسی علیه السلام د مور زړۀ ناقلاره شو	نزدې وه چې د موسی علیه السلام حال ئې (دفرعون خلقو ته) ښکاره کړې وې			
لَوْلَاۤ اَنْ	رَّبَطْنَا	عَلٰی قَلْبِهَا	لِتَكُوْنَ	مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ۝۱۰
که چرې نه وې	مضبوط کړې مونږ	زړۀ دهغې	دپاره ددې چې شی	دباورکونکونه
که مونږ د هغې زړۀ مضبوط کړې نه وې	د دې دپاره چې هغه دې په مونږ کلک یقین اوساتی			
وَقَالَتْ	لِاُخْتِهٖ	قُصِّیْهِ ۫	فَبَصُرَتْ بِهٖ	عَنْ جُنُبٍ
او وې وئیل	اخور دهغه ته	چې څه روستو په دۀ پسې	نو کتل هغې هغه ته	دلرې نه
اوهغې د موسی علیه السلام خور ته اووئیل	اچې ته ورپسې روستو څه	نوهغې موسی ته دلرې نه (پټ پټ) کتل		

Scanned with Ca

وَّهُمْ	لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۳﴾	وَحَرَّمْنَا	عَلَيْهِ	الْمَرَاضِعَ
اوهغوئ (خلق)	نه پوهيدل	او حرام کړي وي مونږه	په هغه باندې	تی ورکونکی ښځی
اود فرعون خلق پرې نه خبريدل	اومونږ داول نه په هغه باندې دائی ګانې منع کړې وي			
مِنْ قَبْلُ	فَقَالَتْ	هَلْ اَدُلُّكُمْ	عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ	يَّكْفُلُوْنَهٗ
دمخکښی نه	انواووئيل (خورئې)	آيا خبر درکړم زۀ تاسو ته	په اهل ديو کور	چې پالنه به کوی دده
(چې دهيچا تې ئې نه اخستو)	نود موسی خور اووئيل	آيا زۀ درته يوداسې کورنئ اوښايم	چې د ده پالنه	
لَكُمْ	وَهُمْ لَهٗ	نٰصِحُوْنَ ﴿۱۲﴾	فَرَدَدْنٰهُ	اِلٰٓى اُمِّهٖ
ستاسو دپاره	او هغوئ به	دپاره دهغه خير خواهان وی	واپس راوستو مونږ هغه	مور دهغه ته
به ستاسو دپاره کوی	اوهغوی به ددۀ خيرخواه وی	نو مونږ هغه خپلې مور ته په واپس کړو		
كَيْ	تَقَرَّ	عَيْنُهَا	وَلَا تَحْزَنَ	وَلِتَعْلَمَ	اَنَّ
دپاره ددې	چې خوږې شی	سترګې دهغې	او غمژنه نشی	او چې پوهه شی	چې بيشکه
چې د هغې سترګې پرې يخې شی	او چې غمژنه نه وی	.....	او چې په دې پوهه شی چې		
وَعْدَ اللّٰهِ	حَقٌّ	وَّلٰكِنَّ	اَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾
وعده دالله	رښتينی ده	وليکن	زيات خلق ددوئ	نه پوهيږی
د الله ﷻ وعده حقه ده	خو زيات خلق په دې (خبرو) نه پوهيږی			

قوله تعالی:- وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا

د موسی ؑ پالنه دفرعون په کورکښې:- دموسی ؑ مورچه کله هغه په صندوقچه کښې واچولواود فرعونيانود ويرې په درياب کښې لاهوکړو نوډيره پريشانه شوه اوبغيرد الله تعالی د رښتونی رسول او د خپل خيګر ټکړې موسی ؑ نه د هغې دبل څه څيز خيال پاتې نه شو.صبر اوآرام ئی لاړو په زړه کښې به ئی دموسی ؑ د خيال نه بل هيڅ خيال نه راتلو.که د الله تعالی دطرف نه د هغې د زړه سانته نه کيدله نوهغې به په بې صبرئی کښې راز ښکاره کړې وو خلقوته به ئی وئيل چه دغه شان زماماشوم ضائع شو.ولې الله تعالی د هغې زړه صبرکړو ډاډګيرنه اوتسلی ئی ورکړه اوهغې ته ئی کامل يقين ورکړوچه ستاماشوم به تاته خامخا ملاويږی.دموسی ؑ مور بی بی خپلې مشرې لورته چه لره غوندې په عقل وه اوفرمائيل چه لورې ته دې صندوقچې ته ګوره اوپه غاړه غاړه ورسره څه ګوره چه څه کيږی؟ ماته خبر اوکړه نودې د لرې نه هغې ته کتل او روانه وه خوپه داسې طريقه اوناجاړه کښې چه بل چاته پته هم اونه لګی چه داد دې خيال ساتی او ورسره ورسره روانه ده. د فرعون محل ته په رسيدو اود هغه دوينځو راخستو پورې خود هغه خور بی بی اوکتل پيا هلته بهر اودريده چه کيدې شی څه معلومات اوشی چه دننه څه کيږی. هلته دا اوشوچه حضرت آسيه ؓ فرعون د هغه وينې تويولونه منع کړو او ماشوم نی په خپله پالنه کښې واخستو. په شاهی محل کښې چه څومره دايانې وې ماشوم نی نه تولونه ورکړو هريوپه ډير محنت او مينه سره په ده باندې د پښيوځکلوکوشش اوکړوخود الله تعالی په حکم موسی ؑ ديوې ښځې نه هم يوګوټ پنی اونه څکل آخرئی دخپلووينځوپه ذريعه بهر اوويستلو چه چرته بهر څوک دائی پيداکړئی اود چا پنی چه اوڅکی هغه دلته راولئی. رب العالمين ته دامنظور نه وه چه د هغه نبی دې د مورنه بغيرد بل چا پنی اوڅکی اوپه دې کښې د تولونه لوئی مصلحت داوو چه په

Scanned with Ca

دي بهانه موسی ﷺ خپلې مورته اورسی. وینځوچه کله هغه بهر رااوویستلو نو خورئی اوپیژندلو خو دوی باندې هیڅ هم ظاهر نه کړل اونه دوی ته پخپله څه پته اولګیدې شوه. د هغه مور خو اول ډیره پریشانه وه خود دې نه پس الله تعالی هغې ته صبر اوآرام ورکړې وو اوهغه چپ او په تسلئی سره وه. خورئی ورته اووئیل چه تاسو دومره ولې پریشانه ئی؟ هغوی وئیل چه داماشوم د یوې دائی پئی هم نه ځکی مونږ د ده د پاره د یوې دائی لټون کوو. دې اوریدو سره د کلیم الله خوربی بی اووئیل که تاسو وائې نو زه د یوې دائی پته درکړم؟ممکن دی چه دا ماشوم د هغې پئی اوځکی اوهغه د ده پرورش اوکړی اود ده خیرخواهی اوکړی. دې اوریدو سره د هغوی څه شك غوندې پیدا شوچه داجینئی د دې ماشوم د اصلیت اود ده د مور پلار نه خبرده دائی راګیره کړه او دې نه ئی تپوس اوکړو تاته څه معلومه ده چه هغه ښځه به د ده کفالت اوخیرخواهی کوی؟ هغې زر جواب ورکړو سبحان الله څوك به دانه غواړی چه په شاهی دربارکښې دې دهغه عزت اواکرام وی اود هغه د انعام په خاطر به څوك دې ماشوم له پئی نه ورکوی؟ د هغوی په عقل کښې هم راغله چه زمونږ اولنې ګمان غلط ووداخوټیك وائی دا پریږدئی اووئیل ښه ده رازه د هغوی کور راته اوښایه. دا هغوی سره خپل کورته راغله دخپلې مور طرف ته ئی ارشاره اوکړه چه دې له ئی ورکړئی نو شاهی نوکرانوهغه ماشوم دې ته ورکړوماشوم ددې پئی اوځکل ډیرزرداخبرحضرت آسیه رضی الله عنها ته ورکړې شو. دې اوریدو سره هغه ډیره خوشحاله شوه اوهغه ئی محل ته راوغوښتله اوډیر څه انعام اواکرام ئی ورکړو. خودا پته ورته نه وه چه په واقعې کښې هم دابنځه ددې ماشوم خپله مور ده. صرف په دې وجه چه موسی ﷺ دهغې پئی ځکلې وودهغې نه ډیره خوشحاله شوه دیوځو ورځو پورې خو هم داسې کار روان وو. آخریوه ورځ حضرت آسیه رضی الله عنها اووئیل زما خواهش دې چه ته هم محل ته راشه هم دلته اوسیږه خوره څکه اودې ماشوم ته پئی ورکوه. دموسی ﷺ مور وئیل چه داخومانه نه کیږی زه د بال بچ ښځه یم زما خاوندهم دې زه به ده ته په خپل کور کښې پئی ورکوم بیابه ئی تاسو کره رالیګم. هم دا مقررشوه اوپه دې باندې دفرعون بی بی هم رضامندشوه. د موسی ﷺ د مور ویره په امن سره فقیری په مالدارئی سره اولګه په مړه سره اوذلت په عزت سره بدل شو. هره ورځ به ئی انعام اواکرام اخستلو خوراك څښاك اوکپړې وغیره به ورته په شاهی طریقه ملاویدلې خپل خوږ ماشوم به ئی په خپله غیږ کښې پاللو. یوه شپه یا یوه ورځ یاد یوې شپې ورځې نه پس الله تعالی د هغې مصیبت په راحت سره بدل کړو.

څوك چې حلاله کټه کوی او د الله ﷻ نه ویره کوی نو دهغه مثال د موسی ﷺ دمور دې:- په حدیث شریف کښې دی چه کوم سړې خپل کارروزګار کوی اوپه دې کښې د الله تعالی ویره اوزما د سنتولحاظ ساتې دهغه مثال د موسی ﷺ د مور په شان دی چه هم په خپل بچی باندې پئی څکوی اواجرت هم اخلی(۱) دالله تعالی ذات پاك دې اوهم د هغه په لاس کښې ټول کارونه دی هم د هغه غوښتنه کیږی او کوم یوکار چه هغه نه غواړی هغه هیڅ کله نه کیږی. یقیناً هغه د هرهغه سړی امدادکوی څوك چه په هغه باندې توکل اوکړی. د هغه حکم منونکې دست ګیر هم هغه دې اوهغه د خپلو نیکانو بندیګانوپه سخت وخت کښې په کارراځی اود هغوی تکلیفونه اخواکوی اود هغوی تنګی په فراخئی سره بدلوی او د هریوخفګان نه پس ورته خوشحالی ورکوی. سبحانه ماأعظم شانه.

قوله تعالی:- فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ

موسی ﷺ اعزاز او کرام سره د مور غیږې ته واپس کړې شو:- بیافرمائی مونږ هغه د خپلې مورطرف ته بیا واپس کړو دې دپاره چه د هغې سترګې پرې یخې وی اوهغې ته دخپل بچی خفګان نه وی اودالله تعالی وعدې هم رښتیتااوکنړی اودایقین هم اوکړی چه هغه به ضرور نبی اورسول کیدونکې هم دې.اوس د

---

(۱) دَدې معنی روایت ابن ابی شیبه :۳۴۷/۵ ،بیهقی:۲۷/۹ ، المراسیل لابی داؤد:۳۳۳ کښې. موجوددې.

Scanned with Ca

موسی علیه السلام مور بی بی ښه په تسلئی سره د هغه پالنه کولو کښې مشغوله وه داسې پالنه ئی کوله لکه چه د یواوچتې درجې د پیغمبر کیدل پکاروو. اود رب حکمتونه د بې علمود نظرنه غیب وی. هغوی د رب تعالی دحکمونو غرض اود. هغې منلوسره د نیك انجام سوچ نه کوی اود ښکاره نفع نقصان پابند اوسیږی اوپه دنیاباندې مست وی هغوی سره دانښه نه لګی ممکن دی چه کوم څیز هغوی خراب ګڼږی هغه ښه وی اودیر ممکن دی چه کوم څیز هغوی ښه ګڼږی هغه خراب وی. که یوکارخراب ګڼږی نو څه معلومه ده چه قدرت په هغې کښې څه فاندې پټې کیخودې دی.

وَلَمَّا بَلَغَ	اَشُدَّهٗ	وَاسْتَوٰٓى	اٰتَيْنٰهُ	حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ
او هرکله چې اورسیدو موسی	خوانئ خپلې ته	او برابر شو په عقل	انو ورکړو مونږ هغه ته	احکمت او علم
او کله چې موسی علیه السلام خپلې خوانئ ته اورسیدو		او ښه تکړه شو	نومونږ ورته حکمت اوعلم ورکړو	

وَكَذٰلِكَ	نَجْزِى	الْمُحْسِنِيْنَ ۝	وَدَخَلَ	الْمَدِيْنَةَ	عَلٰى حِيْنِ
او دارنګې	بدله ورکوؤ مونږه	نیکانو خلقو له	اوننوتو هغه	ښار ته	په وخت
اومونږ نیکانو خلقو ته هم دغسې بدله ورکوو		او (یوه ورځ) موسی علیه السلام د خلقو د غفلت په وخت کښې			

غَفْلَةٍ	مِّنْ اَهْلِهَا	فَوَجَدَ	فِيْهَا	رَجُلَيْنِ	يَقْتَتِلٰنِ ۚ	هٰذَا
دغفلت	داهل دهغې	نو بیا ئې موندو	په هغې کښې	دوه سړی	چې جګړه ئې کوله	دایو
ښار ته داخل شو	.....	نو هلته ئې دوه سړی په جنګ اولیدل				دا(یو)

مِنْ شِيْعَتِهٖ	وَهٰذَا	مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ	فَاسْتَغَاثَهُ	الَّذِىْ
دډلې دهغې نه ووٴ	او دا بل	ددښمنانو دهغه نه ووٴ	نو امداد اوغوښتو دهغه نه	هغه سړی
خو د ډۀ دقوم ځنی وو	او بل د ده د دښمنانوځنی وو		نوکوم سړې چې ددۀ دقوم وو	هغه د دښمن

مِنْ شِيْعَتِهٖ	عَلَى الَّذِىْ	مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ	فَوَكَزَهٗ	مُوْسٰى
چې دډلې دهغه نه ووٴ	خلاف دهغه سړی	چې ددشمن دهغه نه ووٴ	نو سوك ورکړو هغه له	موسی
د سړی په مقابله کښې دموسی علیه السلام نه مدد اوغوښتلو			نو موسی علیه السلام ورته یو سوک ورکړو	

فَقَضٰى عَلَيْهِ ۖ	قَالَ	هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ؕ	اِنَّهٗ	عَدُوٌّ
نو کار ئې تمام کړو دهغه	اووئیل موسی	دا کار دعمل دشیطان نه دې	بیشکه هغه	دشمن دې
نوهغه مړ شو	موسی علیه السلام اووئیل چې دا خو یو شیطانی کار اوشو			بیشکه هغه

مُّضِلٌّ	مُّبِيْنٌ ۝	قَالَ	رَبِّ	اِنِّىْ	ظَلَمْتُ
ګمراهه کونکې دې	ښکاره	اووئیل موسی	اے ربه زما	بیشکه زۀ چې یم	ظلم اوکړو ما
ښکاره بې لاره کونکې دشمن دې		موسی علیه السلام اووئیل چې ائې زما ربه! ما په خپل			

نَفْسِىْ	فَاغْفِرْ لِىْ	فَغَفَرَ	لَهٗ ؕ	اِنَّهٗ	هُوَ
په ځان خپل	نو ښښنه اوکړه ماته	نو ښښنه اوکړه الله	هغه ته	بیشکه هغه	خاص هم هغه
ځان ظلم اوکړو	نوته راته معافی اوکړه	نو الله ورته معافی اوکړه			.....بیشکه هغه

Scanned with Ca

الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ

ښښونکي | مهربانه دي | اووئيل موسى | اے ربه زما | په سبب دهغه انعام | چې تاکړي دي په ماباندي

بخښونکي مهربان دي | موسى عليه السلام اووئيل چې ائي زما ربه ! تاچې په ماکومه مهربانی کړې ده

فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۷﴾ فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ

نو هر ګز به نه کيږم زهٔ | مددګار | دپاره دمجرمانو خلقو | پس صبا کړو موسى | په هغه ښار کښې |

نو زه به هيڅرې د مجرمانو مددګار جوړنشم | .....نو موسى عليه السلام په ښار کښې

خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ

يريدونکي اچې خطره ئې محسوسوله|نو ناسپه|هغه سړي|چې امداد ئې غوښتې وؤ دهغه نه |

د ويرې اوانتظار په حالت کښې صبا کړو | څهٔ ګوری چې پرون ترې نه کوم سړي امداد غوښتلې وو

بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ

پرون ابيا ئې فرياد کوؤ هغه ته | اووئيل هغه ته | موسى | بيشکه تهٔ | خامخا بې لارې ئې |

هغه ورته نن بيا (دمدد دپاره) آوازونه کوی | موسى عليه السلام ورته اووئيل چې ته خو ښکاره بې

مُّبِيْنٌ ﴿۱۸﴾ فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِيْ هُوَ عَدُوٌّ

ښکاره |پس هر کله چې | اراده اوکړه موسى | چې اونيسی | هغه سړي | چې هغه | دشمن وؤ |

لارې سړې يئ | نوځه وخت چې موسى عليه السلام هغه سړی ته لاس وراوږد کړو | کوم چې د دواړو په شريکه

لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا

ددواړو | نو اووئيل هغه اسرائيلی | اے موسى | آيا تهٔ غواړې | چې اووژنې ما | الکه څنګه

دشمن وو | نو هغې (اسرائيلی) اووئيل چې ائي موسى عليه السلام ! | آيا ته ما هم هغسې قتل کول غواړې | الکه

قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا

چې تاوژلې دي | يو سړي | پرون | نهٔ غواړې تهٔ | مګر | چې شې تهٔ | زورور

چې پرون دې يو سړي وژلې وو | ته خوبس په دې زمکه کښې زوراور کيدل غواړې

فِي الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۹﴾

په زمکه (دمصر) کښې | اونهٔ غواړې تهٔ | چې شې تهٔ | داصلاح کونکونه

.....اودا نه غواړې چې د روغې کونکو څنې شې

قوله تعالى:- وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا

د موسى عليه السلام د لاس نه د قبطی قتل:-موسى عليه السلام د وړوکوالی ذکرکولونه پس اوس دهغه د خوانئی دواقعه

بيان کولې شی چه الله تعالى هغه ته حکمت اوعلم ورکړويعنی نبوت ئی ورکړو(۱) نيکان هم داسې

(۱) الدرالمنثور: ۲۳۱/۵.

بدله مومی.بیادهغه واقعه ذکرکولې شی کومه چه د موسی ﷺ دمصر پریخودو ذریعه جوړه شوه اود کومې نه پس چه الله ﷻ هغه ته د رحمت مخ واړولو.ده مصرپریخودو اودمدین طرف ته لاړو.هغوی یوځل ښار ته راځی یاخودمابنام نه پس یاماسپښین په وخت(۱)خلق په خوراك څښاك یااوده کیدوکښې مشغول دی.په لاره باندې ډیر خلق نشته څه ګوری چه دوه کسان په خپل مینځ کښې په جګړه دی یواسرائیلی دې اویوقبطی.اسرائیلی دقبطی موسی ﷺ ته شکایت اوکړواود هغه زورزیاتې بیان کړو په دې باندې موسی ﷺ له غصه ورغله اویوه موکه ئی ورکړه په هغې سره چه هغه هم هغه وخت مړشو. موسی ﷺ اوویریدلو وئی وئیل چه داخود شیطان کاردې شیطان دښمن اوګمراه دې اود هغه د نوروګمراه کول هم ښکاره دی. بیائی دالله تعالی نه معافی غوښتله اواستغفارئی کولو الله تعالی هم اوښښلو او ښښونکې مهربان خوهغه دې.اوس ئی وئیل ای الله تعالی تاخومالـه عزت بزرګی او نعمت راکړې دې زه دامخې ته ایږدم او وعده کوم چه بیا به هیڅ کله د یونافرمان په هیڅ کارکښې برابرې او امدادنه کوم.

قوله تعالی:- قَالَ يٰمُوسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ

د قتل رازښکاره شو :- د موسی ﷺ د موکې نه قبطی مړشوپه دې وجه د هغوی په طبیعت کښې ویره وه ښار ته په ویره ویره راغلوچه اوګوری څه خبرې کیږی چرته راز خوښکاره شوې نه دې؟څه ګوری چه هم پرونې اسرائیلی یوبل قبطی سره په جنګ دې. د موسی ﷺ په کتوسره هغه د پرون په شان نن هم فریاد اوکړو اوزارې ئی کولې. حضرت موسی ﷺ اوفرمائیل ته ډیر شیطان سړې ئی دې اوریدو سره هغه اوویریدو.کله چه حضرت موسی ﷺ د هغه ظالم قبطی طرف ته د هغه د ظلم بندولود پاره لاس وړاندې کولو نودې سړی د خپل کمینه توب او بزدلئی نه دا اوګنړل چه ګنی هغوی هم ده ته بد اووئیل او هم دې رانیسی نود خپل ځان بچ کولود پاره ئی شور شروع کړوچه موسی ﷺ لکه څنګه چه تا.پرون د یوسړی قتل کړې دې نن ما قتل کول غواړې؟پرونئی واقعه خو صرف د ده په وړاندې شوې وه څکه تراوسه پورې چاته پته نه وه لګیدلې خونن د ده په خله دې قبطی ته معلومه شوه چه داکارد موسی ﷺ دې اودې بزدل اوډرپوك دې سره داهم ښکاره کړه چه ته خو په زمکه باندې سرکشه اوسیدل غواړې او ستا په طبیعت کښې خو اصلاح نشته. قبطی چه داواوریده نواوتختیدو اومنډه ئی کړه د فرعون دربار ته اورسیدواوهلته ئی مخبری اوکړه.دفرعون دزړه دخرابوالی اوس څه حدپاتې نه شواوزر ئی سپاهیانو اوزغلول چه موسی ﷺ راونیسئی او پیش ئی کړئی.

وَجَآءَ رَجُلٌ	مِّنْ اَقْصَا	الْمَدِيْنَةِ	يَسْعٰى ۬	قَالَ	يٰمُوْسٰٓى
او راغې یوسړې	داخرسر	دهغه ښار نه	چې رامنډې ئې وهلی	اووئیل هغه	اے موسی
او یو سړې د ښارد بلې غاړې نه په منډه منډه راغلو	..... وې وئیل چې ائې موسی ﷺ				
اِنَّ الْمَلَاَ	يَاْتَمِرُوْنَ	بِكَ	لِيَقْتُلُوْكَ	فَاخْرُجْ	اِنِّيْ
بیشکه سرداران	مشوره کوی	خلاف ستا	چې اووژنی تا	نو اوخه ته	بیشکه زه
درباریان ستا په باره کښې مشورې کوی	چې تا اووژنی	نو ته د(ملک نه) بهر لاړشه	بیشکه زه		
لَكَ	مِنَ النّٰصِحِيْنَ ۝	فَخَرَجَ	مِنْهَا	خَآئِفًا	يَّتَرَقَّبُ ۬
تاته	دنصیحت کونکونه یم	نو اووتو موسی	دهغه ښارنه	ایریدونکی اچی کتل به ئې هر طرفته	
ستا خیر خواه یم	نو موسی ﷺ د هغه ځائې نه د ویرې اوپریشانئ په حالت کښې اووتلو				

۱) الطبری:۵۳۸/۱۹.

قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا

اووئيل موسی | اے ربه زما | نجات راکړي ماته | دقوم ظالم نه | او هر کله چې

دا ئې وئيل چې اې زما ربه ! ما د دې ظالمانو نه خلاص کړه | ..... او څۀ وخت چې

تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ

توجه اوکړه (روان شو) هغه اطرف | دمدين ته | نو وې وئيل | اميد دي رب زما | چې اوبه ښانې ماته

موسی ﷺ د مدين طرف ته روان شو | .....نو وې وئيل | اميد دي چې زما رب به راته

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۲۲﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ

نيغه لار | او هر کله چې | اورسيدو | اوبو (کوهی) دمدين ته | نو وې مونده |

نيغه لار اوښائی | .....اوکله چې د مدين اوبو (د کوهی غاړې) ته اورسيدو | نو هلته ئې

عَلَيْهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ ۖ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ

په هغې باندې | يوه ډله | دخلقو نه | چې اوبه کول ئې څاروی | اووې ليدلې | په ډډه دهغوئ نه

د خلقو يوه ډله بيامونډله چې (څاروی) خړوبوی | اود هغوئ نه ئې يوې ډډې ته ئې دوه

امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۭ

دوه ښځې | چې رامنع کولې به ئې (ګډې خپلې) | اووئيل موسی | څه دې حال (کار) ستاسو |

ښځې اوليدې چې (خپلې ګډې ئې) منع کړې ولاړې وې | موسی ﷺ اووئيل چې تاسو څه غواړئ

قَالَتَا لَا نَسْقِيْ ۔ حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ۭ

اوونيل هغوئ دواړو | چې اوبۀ نۀ ورکوؤ مونږ | تر هغې پورې | چې اوباسی څاروی | دا شپانۀ

هغوئ اووئيل چې مونږ ترهغه وخته (خپلو ګډو ته) اوبه نه ورکوو ترڅو چې ګډبانه (خپل کنډ کونه) اوبه ورنکړی

وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿۲۳﴾ فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰٓى

او پلار زمونږ | بوډا دې ډير | نو اوبۀ ئې کړل څاروی | دهغوئ دواړو | بيا | واپس لاړو

اوزمونږ پلار ډير بوډا | دې | نوموسی ﷺ د هغوئ دپاره (په ګډو) اوبۀ اوڅکولې | بيا يو ارخ ته

اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّىْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ

سوری ته | پس وې وئيل | اے ربه زما | بيشکه زۀ | هر هغه څيز ته | چې نازل ئې کړې ته ماته

په سوری کښې کيناستو | نو دعائې اوکړه چې اې زما ربه ! چې څه نعمت دې راولېږلو نو

مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿۲۴﴾

دخير نه | محتاج يم |

زۀ ورته ډير محتاج يم

قوله تعالی:- وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى

د قوم فرعون نه يوخيرخواه تذکره:- دې راتلونکی ته ئې رجل اووئيل په عربی کښې رجل وائی پښتونه. هغه چه کله اوکتل چه سپاهيان د موسی ﷺ په لټون کښې روان شو نودې په پښوسره په تيزو منډوپه يوه

نیزدې لاربانديې اووتلو اوزر نی موسی ﷺ ته خبر ورکړو چه د دې ځائ مشرانو ستا د قتل اراده کړې ده تاسو ښار پریږدنی زه ستاسو خیرخواه یم زما خبره اومنئی.

قوله تعالی:- وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ

د مدین سخت سفر:- دفرعون اوفرعونیانو ارادې چه کله د دې سړی په ذریعه موسیء ﷺ ته معلومې شوې نوهغوی دهغه ځائ یکی یوازې چپ اوپټ اووتلوتردغه وخته پورې د هغوی ژوندخودشهزادګانو په شان تیرشوې ووسفرورته ډیرسخت معلوم شوخود ویرې ترهې په وجه به نی اخوادیخوا کتل او نیغ روان وو اوداللہ ﷻ نه به نی دعاغوښتله چه یااللہ ماله ددې ظالمانویعنی فرعون اوفرعونیانونه خلاصې راکړې.روایت دې چه اللہ ﷻ د هغوی د لارخودنې دپاره یوه فرښته راولیګله چه په اس باندې هغوی سره وه اوهغوی ته نی لاراوخودله.واللہ اعلم.په لږساعت کښې هغه دښګلونواوبیابانونونه اووتلواود مدین لارې ته اورسیدلو.خوشحاله شواوونی فرمائیل چه ماته داللہ ﷻ نه امید دې چه هغه به مې هم په نیغه لار بوځی. اللہ تعالی د حضرت موسی ﷺ دا امید پوره کړو اود دنیااوآخرت نیغه لار نی نه صرف وراوخودله بلکه د نورو د پاره هم د نیغې لارخودونکې جوړشو.

قوله تعالی:- وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ

موسی ﷺ مدین ته اورسیدو:- مدین سره نیزدې یوکوهی له راغلوچه ونی کتل نو ګډبانه اوبه په رابنکلو رابنکلو خپلو څاروو باندې څکی اوهلته موسی ﷺ داهم اولیدل چه دوه ښځې دی چه خپلې چیلنی د نوروخلقودڅاروو سره داوبوڅکلونه منع کوی.نوحضرت موسی ﷺ ته په دې چیلو اوپه دې ښځوباندې رحم راغلوچه دوی اوبه نه شی راویستلې اود ګډبانونه هم څوك دا خیال نه کوی چه د خپلو رابنکلو شوواوبونه دهغوی په چیلوهم اوڅکی.موسی ﷺ د هغوی نه تپوس اوکړو تاسوخپل څاروی د دې اوبو نه ولې منع کوئی؟ هغوی وئیل چه مونږ خو اوبه نه شو راویستلې چه کله د دوی څاروی اوبه اوڅکی او لاړ شی نودا بچ شوې پاتې اوبه به مونږ په خپلو څاروو باندې اوڅکو.

قوله تعالی:- فَسَقَىٰ لَهُمَا

دلسو کسانو بوکه موسی ﷺ په یوازې راوویستله:- زمونږ پلاردې خوهغه ډیربوډا دې. موسی ﷺ پخپله دا اوبه رابنکلې او په دوی باندې اوڅکلې. عمر ﷺ فرمائی چه د دې کوهی خُله دې ګډبانو په یو لوئ کانړې باندې بندکړې وه.کوم کانړې چه به لسوکسانو په یوځائ ددې نه اخوا کولوموسی ﷺ په یوازې خان هغه اخواکړواوهم یوه ډولچه نی راویستې وه په هغې کښې اللہ تعالی برکت واچولو اود دې دواړو جینکوچیلنی مړې شوې. موسی ﷺ ستړې ستومانه اوتږې تږې د یوې اونې د سوری لاندې کیناستو. دمصر نه د مدین پورې پیدل په منډو راغلې وو په پښوکښې پولې شوې وې دخوراك ورسره هم هیڅ نه و. دونو پانړې اووانښه مانښه نی خوړل او خیټه نی ملاسره لګیدلې وه اودوښوشین رنګ بهر تږې ښکاریدو.دنیمې کهجورې د پاره هم هغه په دې وخت کښې محتاج وو.سره د دې چه په دغه وخت کښې د ټول مخلوق نه زیات بزرګ د اللہ تعالی په نیزباندې هم دې وو. صلوات اللہ وسلامه علیه.

قوله تعالی:- ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى الظِّلِّ

هغه ونه څنګه او د څه وه؟ ابن مسعود ﷺ فرمائی چه زه دشپې په سفرکولوسره مدین ته اورسیدم اود هغه ځائ دخلقو نه مې دهغه ونې باره کښې تپوس اوکړو دکومې لاندې چه داللہ ﷻ کلیم دمه کړې وه. خلقو دیوې ونې طرفته اشاره اوکړه.ما اوکتل چه هغه یوه تکه شنه ونه ده.زما څاروې ډیر اوګې وو هغه په خُله کښې پانړه واخستله اوترډیره ساعته پورې شوخوندوهلوخوآخرنی هغه واپس راوویستله ماد کلیم اللہ دپاره دعااوکړه اودهغه ځائ نه واپس شوم.یوبل روایت کښې دی چه هغه ددې ونې دکتود پاره تلې وودکومې نه چه اللہ ﷻ موسی ﷺ سره خبرې کړې وې لکه څنګه چه به روستو راځی ان شاء اللہ سدی

رحمه الله فرمائی چه دا دکیکر ونه وه.غرض د دې ونې لاندې کیناستو موسی علیه السلام د الله ﷻ نه دعا اوکړه ای ربه زه ستاد احسانونو محتاج یم. د عطاء رحمه الله قول دې چه دې ښځې هم د موسی علیه السلام دعا واوریده. (۱)

فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِیْ عَلَى اسْتِحْیَآءٍ ز

| پس راغله هغه ته | یوه ښځه ددواړو نه | چې تله | په حیاء سره

| بیا دې دوؤ جینکو کښې یوه ورته (واپس) راغله | چې په حیا سره راروانه وه

قَالَتْ اِنَّ اَبِیْ یَدْعُوْكَ لِیَجْزِیَكَ اَجْرَ مَا

اوونیل هغې | بیشکه پلار زما | غواړي تالره | د پاره ددې چې درکړي تاته | مزدوری | دهغې

هغې اووئیل چې زما پلار تا غواړي | .....چې تاته زمونږ په دې کنډک باندې داوبو

سَقَیْتَ لَنَا ؕ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَیْهِ

چې اوبه کړل څاروی تا | مونږ لره | پس هر کله چې | راغلو موسی هغه ته | او بیان نې کړه | هغه ته

خپلو بدله درکړي | نوځه وخت چې هغه شعیب ؑ ته ورغلو | اوهغه ته نې خپله قصه بیان

الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ۟ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ۝

قیصه (خپله) | اووئیل هغه | مه یریږه | خلاص شوې ته | د قوم ظالم نه |

کړه | .....نو هغه (شعیب) ورته اووئیل چې مه ویریږه | تا د ظالمانو نه خلاصې بیامومندلو

قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا یٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۫ اِنَّ خَیْرَ

اووئیل | یوې ښځې ددواړو نه | اے پلاره | مزدور اونیسه دهٔ لره | بیشکه غوره

په دې جینکو کښې یوې اووئیل چې ائې زما بابا جانه! | دې په مزدورۍ سره اونیسه | ځکه

مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِیُّ الْاَمِیْنُ ۝ قَالَ

دهغه چاچې ته نې مزدور کوې | هغه ځوک دې چې قوی وی | امانتدار وی | اوونیل پلار دهغې

چې نه مزدور کار هغه دې چې قوی اوامانتدار وی | .....هغه ورته اووئیل چې

اِنِّیْۤ اُرِیْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَیَّ هٰتَیْنِ

بیشکه زهٔ غواړم | چې په نکاح درکړم تاله | یوه | ددې دواړو لونړو نه | په دې شرط

زهٔ دا غواړم چې په خپلو دوؤ لونړو کښې دیوې تاسره نکاح اوکړم | خو په دې شرط

عَلٰۤى اَنْ تَاْجُرَنِیْ ثَمٰنِیَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا

چې ته به مزدوری کوې زما سره | اته کاله | پس که پوره کړل تا | لس کاله

چې ته به | ته کاله ما سره مزدوری کوې | او که چرې تا لس کاله پوره کړل

فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ وَمَاۤ اُرِیْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَیْكَ ؕ

نو هغه به دطرفه ستا نه وی | اونهٔ غواړم زهٔ | چې سختی اوکړم زهٔ | په تاباندې |

نودابهٔ ستا دطرفه احسان وی | او زهٔ تا په مشقت کښې د | اچولو څه اراده نه لرم (چې سخت کارونه درباندې کوم)

(۱) الطبری:۱۹/۵۵۷.

سَتَجِدُنِيٓ	إِن شَآءَ ٱللَّهُ	مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾	قَالَ ذَٰلِكَ
زر ده چې ته به بيا مومې مالره | که اوغواړي الله |	دصالحانونه |	اووئيل موسى | چې همدا	
ته به انشاء الله ما په معامله کښې ډير ښه بيامومې | موسى ﷺ اووئيل چې دا خبره زما			
بَيۡنِي	وَبَيۡنَكَۖ	أَيَّمَا ٱلۡأَجَلَيۡنِ	قَضَيۡتُ
وعده شوه په منځ زما | او په منځ ستا کښې | هره يوه | ددې دواړو نيتيو |			چې پوره کړه ما |
او ستا په مينځ کښې فيصله شوه | په دواړو کښې هره يوه نيته چې زه پوره کړم			
فَلَا عُدۡوَٰنَ	عَلَيَّۖ	وَٱللَّهُ	عَلَىٰ مَا
نونۀ به وی زياتې | په ماباندې | او الله | په هغه خبرو | چې وايو ئې مونږه | ساتونکې نگهبان دې			
نو په ما به څه زور نه وی | .....او څه چې مونږ وايو الله ﷻ په هغې باندې ګواه دې			

نَقُولُ	وَكِيلٞ ﴿٢٨﴾	

قوله تعالى:- فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ

شيخ کبير اودموسى ﷺ نکاح:-ددې دواړوجينکوپه بزوباندې چه کله موسى ﷺ اوبه اوڅکولې،نودوی خپلې بزې کورته واپس بوتلې، پلارئې اوليدل چه نن دوی دوخت نه مخکښې راغلې،نوتپوس ئې ترې اوکړوچه نن څه خبره ده؟هغوی ورته ربنتونې واقعه واورولە، شعيب ﷺ ددې دواړونه يوه هم هغه وخت اوليږله چه لاړه شه اوهغه ماته راوله،هغۀ موسى ﷺ ته ورغله اوځنګه چه دکورنئ پاک لمنو ښځو دستوروی په شرم اوحيا سره په خپل څادرکښې پټه په پرده کښې روانه وه،مخ ئې هم دڅادرپه پلوپټ کړې وو([1])بيادهغې هوښيارتياوصداقت ته اوګورئ چه صرف دائې ورته اونه وئيل چه زماپلارتا غواړی،څکه چه په دې کښې دشك دخبروګنجائش وو،صفا ورته اووئيل چه زماپلارتاته د مزودرئ درکولودپاره اوداحسان بدله خلاصولودپاره تا رابلی.کوم احسان چه تاپه مونږ په بزوباندې اوبو څکولو سره کړې دې.کليم الله چه اوږې ترې يك يواخې مسافراوبې خرچه وو، ته داموقعه غنيمت معلومه شوه دلته راغې هغۀ ئې يومشر اوګنړلو اودهغۀ په ټپوس باندې ئې خپله ټوله قيصه پوره په پوره ورته بيان کړله،هغۀ ورته تسلی ورکړه اووې فرمائيل چه اوس درسره څه ويره ده؟دهغه ظالمانو دلاسه ته راخلاص شوې دلته دهغوی حکومت نشته.

دا شيخ کبير څوک وو؟:-بعضې مفسيرين وائی چه دابزرګ حضرت شعيب ﷺ وو،چه دمدين والودپاره د الله ﷻ دطرف نه پيغمبرراليږلې شوې وو،همدغه مشهورقول دې.امام حسن بصرىm اونور ډير عالمان دغسې فرمائی،دطبرانی يوحديث کښې دی چه کله سلمه بن سعد غزی ﷺ دخپل قوم دطرف نه بطوراستاذې درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو نو حضور ﷺ ورته اوفرمائيل چه دشعيب ﷺ دقوم په کس اودموسى ﷺ په سخرانه دې مرحباوی([2]) چه تاته هدايت اوکړې شو،بعضې وائی چه دې د شعيب ﷺ ورارۀ وو،اوڅوك وائی چه دشعيب ﷺ دقوم يو مومن سړې وو،دبعضوقول دې چه د شعيب ﷺ زمانه خودموسى ﷺ دزمانې نه ډيره مخکښې وه،دهغوی داقول دقران کريم ددې قول نه اخذ کړې شوې دې چه(وَمَا قَوۡمُ لُوطٖ مِّنكُم بِبَعِيدٖ ﴿٨٩﴾)([3])دلوط ﷺ قوم ستاسونه ډيرلرې نه دې.اوداهم دقران نه ثابته ده چه دلوطيانوهلاکت دابراهيم ﷺ په زمانه کښې شوې وو،اوداهم ظاهره ده چه دحضرت ابراهيم

---

[1]) ايضا۱۹\۸۵۸ حاکم ۲\٤۰۷.
[2]) البزاز ۱۸۱۸،طبرانی ٦۳٦٤.
[3]) ۱۱\هود:۸۹.

Scanned with Ca

ﷺاوحضرت موسی ﷺپه مینځ کښې زمانه ډیره اوږده ده،تقریبا دځلورو سووکالو څنګه چه د بعضې مورخینوقول دي.اوبعضې خلقوددې مشکل داجواب ورکړې دي چه دحضرت شعیب ﷺ عمر ډیراوږدوو،دهغوی مقصدغالباً ددې اعتراض نه بچ کیدل دی ،اللہ اعلم.یوه بله خبره هم په خیال کښې ساتئ چه کۀ دابزرګ هم حضرت شعیب ﷺ وي، نو پکاروه چه په قران کښې په دې موقعه دهغۀ نامه واضحه اخستې شوې وي،اوالبته په بعضې حدیثونو کښې داراغلی دی چه داحضرت شعیب ﷺ وو، خوددې خدیثونوسندصحیح نه دي،څنګه چه به مونږ ډیرزرواضحه کړو انشاءاللہ ﷻ.دبنی اسرائیلوپه کتابونوکښې ددۀ نوم یثرون وئیلې شوې دي.واللہ اعلم.

قوله تعالی:- قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا

دا هم هغه وه چې موسی ﷺ د راغوښتلو دپاره تلې وه:- دابن مسعود ﷺخوې فرمائی چه ثیرون د حضرت شعیب ﷺورارۀ وو،دابن عباس ﷺنه روایت دي چه دي یثربی وو،ابن جریر"رح"فرمائی چه دا خبره به هغه وخت ثابتیده هرکله چه ددې په باره کښې څه خبرمروی وواوداسې نه ده.ددۀ په دواړو لونړو کښې یوې دپلارخیال دې طرف ته راګرځولو،داخیال راګرځولوواله هم هغه لوروه چه دموسی دپاره راغوښتودپاره ورغلې وه،ورته اووئیل چه تاسودې زمونږ دبزودځرولودپاره اوساته،ځکه چه کارکونکې هم هغه ښه وی چه طاقتور وی ، امانتداروی ،پلارتری تپوس اوکړو،چه تاته څنګه پته اولګیده چه په دۀ کښې دادواړه صفتونه شته،لورورته جواب ورکړوچه لس طاقتوروکسانوپه یوخاني چه کوم کانړې د هغه کوهی نه لرې کولې شوهغۀ په یواځې هغه لرې کړو،ددې نه ددۀ دطاقت اندازه په اسانئ سره لګیدې شی.دهغۀ دامانتدارئ اندازه ماته داسې اوشوه چه کله ماهغه تاته راوستونوددې وجې نه چه هغه دلارې نه ناواقفه ووزۀ دهغۀ نه وړاندې شوم.هغۀ راته اووئیل ،ته زمانه روستو شه، او کوم خانې کښې چه لاره بدلول وی نوهغه طرف ته کانړې راغورځوه زۀ به پوهه شم چه په دې لاره تلل پکاردی.(۱)

دریوکسانو ډیردعقل مندئی کارګړې دی؟:- ابن مسعود ﷺفرمائی چه ددریوکسانوپه شان پوهه، عقلمندی معامله فهمی اودوربینی په بل چاکښې بیانه موندې شوه،دابوبکر ﷺ عقل مندی هرکله چه هغۀ دخپل خان نه پس دخلافت دپاره جناب حضرت عمر ﷺ خوښ کړلو.دحضرت یوسف ﷺ اخستونکې مصروالله چاچه په یونظرحضرت یوسف ﷺاوپیژندلواوخپلې بښخې ته اوفرمائیل چه دې په ښه شان سره ساته، او دهغه بزرګ لورچاچه دموسی ﷺ په باره کښې خپل پلارته سفارس اوکړوچه دې په کارباندې اولګوه (۲) دې اوریدوسره ددې جینئ پلارموسی ﷺته اوفرمائیل،که ستاخوښه وی نوزۀ به په دې مهرباندې پدې دواړوجینکوکښې دیوې نکاح تاسره اوکړم چه اتۀ کاله زمونږ بزې اوځروه،ددوی دواړو نومونه صفوراولیایاصفوراوشرفاچاته چه به ئې لیاهم وئیله.اصحاب ابی حنیفه mپدې باندې ابتدلال کړې دي چه یو کس دداقسمه بیعه اوکړی چه زه په دوو غلامانوکښې یودسلویه بدله کښې خرڅوم او اخستونکې منظورکړی نودابیعه ثابته اوصحیح ده.واللہ اعلم.دې بزرګ ورته اووئیل چه اتۀ کاله خو ضروری دی خو ددې نه پس ددوۀکالوتاته اختیار دي .کۀ په خپلئ خوشئ سره دوه کاله زماکارنورهم اوکړې نوښه ده ګنې په تالازم نه ده.تۀ په اووینې چه زۀ بدسړې نه یم.تاته به تکلیف نه درکوم.

قوله تعالی:- عَلٰٓى اَنْ تَاْجُرَنِيْ ثَمٰنِيَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا

دې ایت مبارک نه دعلامه اوزاعی استدلال:- امام اوزاعی ددې نه استدلال کړې دي اوفرمائیلې ئې دی چه کۀ څوک اووائی چه فلانی څیزپه نغدوباندې په لس اوپه قرض باندې په شلوخرڅوم نوبیع صحیح ده.اوخریدارته اختیاردي چه په لسونعدونې اخلی یاپه شلوقرض اخلی،هغوی ددې حدیث هم دغه

(۱) الطبری:۱۹\۵٦۲، حاکم:۲\٤۰۷.
(۲) حاکم:۲\۳٤۵.

Scanned with Ca

مطلب اخلی په کوم کښې چه دی چه کوم کس په دۀوبیعوکښې یوه بیعه اوکړی دهغۀ دپاره دکمی والا بیعه بیعه ده ګنی سود(۱) خودامذهب غورطلب دي دګوم ددتفصیل چه داخائې نه دي .والله اعلم.
اصحاب امام احمد ؒرح ؒددي ایت نه استدلال کړې دي اوفرمائیلی ئې دی چه په خوراك څخاك اوجامو باندې په مزدورئ اوکارروزګارترې باندې لږول صحیح دی.ددې په دلیل کښې دابن ماجه یوحدیث هم دي چه په دې خبره باندې دي چه مزدورمقررول په هغه مزدورئ باندې چه هغه په په مړه خیټه روتې خوری په دې حدیث کښې راغلی دی.چه رسول الله ﷺدسوره طس تلاوت اوفرمائیلوکله چه دحضرت موسی ؑذکرپورې راورسیدونووې فرمائیل چه حضرت موسی ؑخپله خیټه مړه ساتلودپاره اوخپل شرم ګاه بچ کولودپاره اته یالس کاله پورې خپل ځان نوکراولګولو(۲) ددې حدیث یوبل راوی مسلمه بن علی الخشنی دې چه ضعیف دې.داحدیث په بل سندسره هم مروی دی خوهغه سندهم دنظرنه خالی نه دې.کلیم الله دبزرګ شرط قبول کړلوووې فرمائیل چه په مونږ په تاکښې دافیصله اوشوه ماته به اختیاروی چه خواه که لس کاله پوره کوم یاداتوکالونه پس پریږدم. د اتوکالونه پس به ستاپه ماباندې هیڅ دمزدروئ حق لازمی نه وی.مونږ الله تعالی په خپله دې معامله باندې ګواه جوړو،اودهغۀ کار سازی کافی ده.نوګوالس کاله پوره کول مباح دی خوهغه زیاتی څیزدې ضروری نه دې.ضروراتۀ کاله دی.څنګه چه دمنی داخری دۀوورځوپه باره کښې دالله تعالی حکم دې اوځنګه چه په حدیث کښې دی، حضوراکرم ﷺحمزه بن عمرواسلمی ؓته فرمائیلې ووچاچه به په کثرت سره روژې نیولې،چه کۀ په سفر کښې روژې نیسې نوتاته اختیاردې ګنی مه نیسه،نوهم تاته اختیاردې.باوجوددې چه په دویم دلیل سره نیول افضل دی.(۳)

موسی ؑلس کاله پوره کړې وو ددې دلائل:-چنانچه ددې دلیل هم راغلې دې چه موسی ؑ لس کاله پوره کړې وو،په صحیح بخاری کښې دی چه دسعیدبن جبیر ؓنه یویهودی سوال اوکړو چه موسی ؑ اته کاله پوره کړې وویالس؟نوهغوی ورته اوفرمائیل ماته پته نشته.بیادعربوډیرلوې عالم حضرت ابن عباس ؓته ورغلل اودهغۀ نه ئې هم دغه سوال اوکړو،نوهغوی ورته اوفرمائیل چه په دې دواړو مدو کښې کومه موده ډیره پاکه وه،هم هغه هغوی پوره کړه،یعنی لس کاله،دالله پیغمبرچه څه وائی هغه پوره کوی(۴)حدیث فتون کښې دی چه سوال کونکې نصرانی وو،خوپه بخاری کښې چه څه دی هم هغه اولې دې.والله اعلم.په ابن جریرکښې دی چه رسول الله ﷺدحضرت جبرائیل نه سوال اوکړوچه حضرت موسی ؑکومه موده پوره کړې وه،نوجواب ورته ملاوشوچه په دې دواړوکښې کوم یوکامل اومکمل موده وه(۵)په یومرسل حدیث کښې دی چه دحضوراکرم ﷺنه چاداتپوس اوکړونوحضور ﷺدحضرت جبرائیل ؑنه تپوس اوکړو،جبرائیل ؑدبلې فرښتې اوتردې پورې چه فرښتې دالله نه تپوس اوکړو. الله تعالی جواب ورکړوچه په دواړوکښې پاك اوپوره موده یعنی لس کاله.په یوحدیث کښې دی چه د حضرت ابوذر ؓپه سوال باندې حضور اکرم ﷺ دلسوکالودمودې پوره نوم اخستوسره داهم اوفرمائیل چه که ستانه تپوس اوشی چه دکومې جینئ سره حضرت موسی ؑنکاح کړې وه نوجواب ورکړه چه په دواړوکښې کومه یوه کشره وه(۶) اوپه روایت کښې دی حضور اکرم ﷺ ډیره موده پوره اوښودل.

---

۱) ابی داؤد کتاب البیوع باب فی من باع بیعین فی بیعه وسنده حسن ابن حبان:۴۳۴\۳، بیهقی:۳۴۳\۳، حاکم:۴۵\۲.
۲) ابن ماجه کتاب الرهون باب اجارة الاجیر علی طعام بطنه:۲۴۴۴.
۳) صحیح بخاری کتاب الصوم، باب الصوم فی السفروالافطار:۱۹۴۳، صحیح مسلم:۱۱۲۱، ابی داؤد:۲۴۰۲، ترمذی:۷۱۱
۴) صحیح بخاری کتاب الشهادت ع ۲۶۸.
۵) حاکم:۴۰۷/۲-۴۰۸،مسندابی یعلی:۲۳۰۸، مسندحمیدی:۵۳۶ وسنده حسن.
۶) البزار:۲۲۴۴

دموسی ﷺ د خپل سخر نه رخصتی او بزې اخستل:- بیائې اوفرمائیل چه حضرت موسی ﷺ د حضرت شعیب ﷺ نه رخصت واخستو اوروان شونو خپلې ښځې ته ئې اوفرمائیل چه دخپل پلارنه څوبزې واخله چه په هغې زمونږ ګزاره اوشی. هغې دخپل پلارنه سوال اوکړونوهغۀ ورسره وعده اوکړه چه دې کال هرڅومره برګې بزې وی ټولې ستادی. حضرت موسی ﷺ دبزوپه خیټوخپله امساراکاړله نودهرې یوې دوه دوه دري دري بچی اوشو. اوټول په ټوله دبرګ نسل واله، چه اوس هم په لټولوموندې شی. په دویم روایت کښې دی چه دحضرت شعیب ﷺ ټولې بزې ښائسته دتوررنګ وې، څومره بچی چه په دغه کال اوشوټول بې عیبه وو، اودکودکو غولانځووالله اودیرپۍ ورکونکی وو.

ددې ټولوروایتونوانحصارپه عبدالله بن لهیعه باندې دې، چه دښۀ حافظې واله نه دې اوویره ده چه دا روایتونه مرفوع نه وی. چنانچه په یوبل سندسره دادانس بن مالک ﷺ نه موفوعا مروی دی اوهغه کښې داهم دی چه دټولو بزوپه دغه کال برګ بچی راوړل اودیوې بزې نه علاوه نورټول موسی ﷺ بوتلې.

فَلَمَّا	قَضٰى	مُوْسَى	الْاَجَلَ	وَسَارَ	بِاَهْلِهٖٓ	اٰنَسَ
پس هر کله چې	پوره کړه	موسی	نیټه	او روان شو	دټپر خپل سره	نووې لیدو
نوڅه وخت چې موسی ﷺ نیټه پوره کړه	او د خپل کورو الا سره (مصرته واپس) روان شو					
مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ	نَارًا	قَالَ	لِاَهْلِهِ	امْكُثُوْٓا	اِنِّيْٓ
دطرفه د طور نه	وور	اووئیل موسی	کور والو خپلو ته	چې ایسار شئ دلته	بیشکه ما
نودطور (نومې غر) طرف نه ئې اور اولیدو	خپل کور والا ته ئې اووئیل چې تاسو دلته ایسار شئ					اما
اٰنَسْتُ	نَارًا	لَّعَلِّيْٓ	اٰتِيْكُمْ	مِّنْهَا	بِخَبَرٍ	اَوْ جَذْوَةٍ
اولیدو	وور	شاید چې	راوړم تاسو ته	دهغه ځائې نه	څه خبر	یا سکروټه
اور لیدلې دې	کیدې شی چې تاسو دپاره د هغې نه څه خبر راوړم					یا د اور یوه شعله چې
مِّنَ النَّارِ	لَعَلَّكُمْ	تَصْطَلُوْنَ ۝	فَلَمَّآ	اَتٰىهَا
دهغه وور نه	دپاره ددې چې تاسو	ورته تاودۀ شئ	پس هر کله چې	راغې موسی هغې وور ته
تاسو ورته ځانونه تودہ کړئ	.....	څه وخت چې موسی ﷺ	اور ته نزدې اورسیدو	
نُوْدِيَ	مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْاَيْمَنِ	فِي الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ	مِنَ الشَّجَرَةِ
آواز اوشو	دطرفه دمیدان	ښی نه	په ځای مبارک کښې	دونې نه
نو د هغې میدان د ښی طرفنه په هغه مبارک ځائې کښې دیوې ونې نه ورته آواز اوشو				
اَنْ يّٰمُوْسٰٓى	اِنِّيْٓ اَنَا اللّٰهُ	رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝	وَاَنْ اَلْقِ
چې اے موسی	بیشکه زه چې یم زه الله یم	رب دمخلوقاتو	او حکم اوشو چې اوغورزوه
چې ائې موسی! بیشکه زه هغه الله ﷻ یم چې د ټول مخلوق پروردګار یم				او خپله
عَصَاكَ ؕ	فَلَمَّا	رَاٰهَا	تَهْتَزُّ	كَاَنَّهَا	جَآنٌّ
همسا خپله	پس هر کله چې	اولیده موسی هغه	چې خوزیږی	لکه چې هغه	نرې مار دې
همسا اوغورزوه	نو څه وخت چې هغه اولیدل چې همسا لکه دمار غوندې حرکت کوی				

Scanned with Ca

وَلّٰى	مُدْبِرًا	وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ	يٰمُوْسٰٓى	اَقْبِلْ
نو اوګرزيدو هغه	شاکونکي	او په شاني اونه کتل	حکم اوشو اے موسی	رامخکښی شه
نو شاطرف ته ئې منډه کړه	اوپه روستو ئې اونه کتل	(مونږ اووئيل) چې ائې موسی	راورانډې شه	

وَلَا تَخَفْ ؕ	اِنَّكَ	مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ۝	اُسْلُكْ يَدَكَ	فِيْ جَيْبِكَ
اومه يريږی	بيشکه ته	دامان موندونکونه ئې	ننباسه لاس خپل	په ګريوان خپل کښی
او ويريږه مه	ځکه چې ته په امن کښې يې	.....اوخپل لاس ګريوان ته ورداخل کړه		

تَخْرُجْ	بَيْضَآءَ	مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۫	وَّاضْمُمْ	اِلَيْكَ	جَنَاحَكَ
راوبه وزی	سپين ځليدونکي	بې دعيب (تکليف) نه	او جوخت کړه	خان ته	لاس خپل
نوبغير د څه عيب نه به ځلنده سپين راوځی	.....او دويرې (دلرې کولو) دپاره				

مِنَ الرَّهْبِ	فَذٰنِكَ	بُرْهَانٰنِ	مِنْ رَّبِّكَ	اِلٰى فِرْعَوْنَ
ديرې نه دبچکيدو دپاره	پس دا دواړه	(نبنې دليلونه دی	دطرفه درب ستا نه	فرعون ته
خپل لاس بيا خپل ځان سره يو ځائې کړه	(نو اولنی حالت ته به واپس شی)	دا ستا درب د طرفنه فرعون		

وَمَلَا۟ئِهٖ ؕ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝
او درباريانو دهغه ته	بيشکه چې هغوئ	دی	قوم (خلق) فاسقان (نافرمان)
اود هغه سردارانودپاره دوه نخښې دی	يقينا هغوئ ډير نافرمانه خلق دی		

قوله تعالى:- فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ

موسیؑ سره دخپلې ښځې مصرطرف ته واپسی:- مخکښې دابيان تيرشوچه موسیؑ لس کاله پوره کړې وو.دقران ددې لفظ(الاجل) نه هم دې طرف ته اشاره ده،والله اعلم.بلکه دمجاهدmخوقول دې چه لس کاله دااولس کاله نورئې هم تيرکړل.په دې قول کښې دې يواځې دې.والله اعلم.اوس دحضرت موسی ؑخيال اوشوق پيداشوچه چپ په چپه وطن ته لاړشم.اوخپلوخپلوانوسره ملاوشم.نوسره د خپلې ښځې اوبزودهغې خانې نه روان شو،دشپې باران شروع شو،اويخې هواګانې په چليدو شوې،او سخته تيارۀ شوه،اوس که ئې هرځومره ډيوه بلوله خورنۍاکيده به نۀ،ډيرزيات حيرانه شوپه دې کښې ئې اوليدل چه څه لرې اوربل دې.نوخپلې ښځې ته ئې اوفرمائيل چه تۀ دلته ويساره شه،هلته څه رنړا ښکاری زۀ هلته ورځم که څوک هلته وونودهغۀ نه به دلارې معلومات هم اوکړم ځکه چه مونږ لاړه ورکه شوې دې.يابه زۀ دهغۀ ځائې لرشان اورراوړم چه په هغې سره تۀ ګرمه شې اوديخنئ څه علاج اوشی.کله چه موسیؑ هلته وراورسيدونودميدان دښی طرف ته دقبلې والهٖ غرنه اوازئې واوريدۀ، څنګه چه دقران په بل ايت کښې دی.وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ)ددې نه معلوميږی چه موسیؑ داوردراوړلو په اراده دقبلې طرف ته تلې وو،اودقبلې طرف واله غرددۀ ښی طرف ته وو.اوپه يوبالکل تازه اوشنه اونه کښې اوپه نظرراتلو.چه دغرۀ په لمن کښې ميدان ته متصل وه،دې چه هلته لاړواوهغه حالت ئې اوليدو حيران پاتې شو،چه ديوې شنې اونې نه داورشغلې په راوتو په نظر راځی.خواورپه څه څيزکښې بل په نظرنه راځی.هم دغه وخت دالله تعالى دطرف نه اوازراغې،عبدالله فرمائی چه ماهغه اونه د کومې نه چه حضرت موسیؑ ته اوازشوې ووليدلې ده،هغه يوه سرسبزاوتازه اونه ده چه پرقيږی. بعضې وائی چه دادعليق اونه وه،بعضې وائی چه دعوسج اونه وه،اوددۀ لرګې هم ددې اوني وو.

Scanned with Ca

قوله تعالی:- اِنِّیۡۤ اَنَا اللّٰہُ رَبُّ الۡعٰلَمِیۡنَ ۙ

د اوور نه د الله ﷻ د موسی ﷺ سره کلام او دوه معجزې ورکول:- کلیم الله واوریدل چه اوازراځی،چه اې موسی ﷺ زهٔ رب اللعالمین یم،چه داوخت تاسره خبرې کوم.زهٔ چه څه اوغواړم کولې شم.زمانه سواځوك دعبادت لائق نشته،اونه زماسواځوك رب شته،زهٔ ددې پاك یم چه څوك زماپه شان وی،په مخلوق کښې هیڅوك زماشریك نشته،زهٔ یکتا ،بې مثله اووحده لاشریك یم،زماپه ذات،زماپه صفاتواوزماپه کارونواوزماپه اقوالو کښې څوك زماسره شریك اوملګرې نشته،زهٔ دهرقسمه پاك اونقصان نه لرې یم، هم په دې اوازکښې ورته حکم اوشوچه خپل لرګې په زمکه باندې اوغورځوه،اوزماقدرت پخپلو سترګو اووینه،په بل ایت کښې دی چه اول ئې ترې تپوس اوکړوچه ستاپه ښی لاس کښې څه دی؟ موسی ﷺ ورته جواب ورکړوچه دازمالرګې دې چه دې ته زهٔ ډډه وهم اودې سره زهٔ دخپلوبزودپاره پانې راځنډم. اونورډیرکارونه هم زماددې سره کیږی.اوس ئې ورته خبرورکړواوپه هغهٔ ئې هغه لرګې په زمکه اوغور خولو،هغهٔ په زمکه پریوتوسره یوه لویه اژدهاجوړه شوه اواخواديخوا پرشیده،دادې خبرې دلیل ووچه وئیونکې واقعی الله تعالی دې.چه قادرمطلق دې،هغه چه څه څیزته څه اوفرمائی هغه لرې کیدې نه شی.دسوره طه په تفسیرکښې هم ددې پوره بیان تیرشوې دې.دغه ویرونکی مار باوجود ددې چه ډیرزیات پیړوولکه دغشی په شان اخواديخواتلوراتلو،خوله به ئی کهلاوکړه نو معلومیده به چه اوس به مې تیرکړی.په کوم ځائې چه به تیریدوکانړی به مات شو،چه دائې اولیدونو حضرت موسی ﷺ اوویریدو،اودویرې دلاسه هلته ټینګ نه شو،په اړولې پښواوتختیدواوشاته ئې هم اونه کتل.هم هلته ورته دالله تعالی دطرف نه اوازاوشوچه اې موسی دیخواراشه،مه ویریږه،تهٔ زماپه امن کښې ئې،اوس دحضرت موسی ﷺ زړهٔ په قلارشو،ښه په اطمینان سره اوبې ویرې هم هلته واپس راغې اوپه ادب سره اودریدو،دامعجزه ورکولونه پس ئې ورته بله معجزه داورکړه چه موسی ﷺ به خپل لاس په ګریوان کښې ورکړواورابهرینه ئې کړو،نولکه دسپوږمئ په شان پرقیدو،اوبنائسته به ښکاریدهٔ، داسې نه چه لکه دکوړه دداغ په شان سپین شی داهم دالله تعالی په حکم باندې هلته اوکړل، خپل لاس ئې دسپوږمئ په شان منوراولیدو،بیائې ورته حکم ورکړوچاتاته ددې مارنه څه ویره رعب معلومیږی نو خپل لاسونه خپل بدن پورې اولګوه نوویره به دې ختمه شی.اوداهم هلته راغلل چه کوم کس دویرې په وخت کښې خپل لاس دالله تعالی ددې فرمان مطابق په خپل زړهٔ باندې کیږدی انشاءالله تعالی دهغهٔ ویره به ختمه شی.

حضرت مجاهد ؒرح"فرمائی چه په شروع دحضرت موسی ﷺ په زړه کښې دفرعون نه ډیره ویره وه،بیابه چه کله دوی هغه اولیدونودادعابه ئې لوستله،(**اللهم انی ادرابك فی نحره واعوذبك من شره**.):اې الله زهٔ تالره ددهٔ په مقابله کښې کوم،اوددهٔ دبدئ نه ستاپه پناه کښې راځم،الله تعالی ددهٔ دزړهٔ نه ویره اورعب لرې کړو،اودفرعون په زړهٔ کښې ئې واچولو،بیاخودهغهٔ داحال شوې ووچه حضرت موسی ﷺ به ئې اولیدو نو دویره نه به ترې متیازې لاړې.دادواړه معجزې یعنی دعصائې موسی اویدبیضاء ورکولوسره ورته الله ﷻ اوفرمائیل چه اوس دفرعون اوفرعونیانوطرف ته رسالت واخله لاړشه اوددلیل په طور ورته دا معجزه پیش کړه،اودهغوی فاسقانوته دالله تعالی لاره اوښایه.

قَالَ رَبِّ	اِنِّیۡ	قَتَلۡتُ	مِنۡهُمۡ	نَفۡسًا	فَاَخَافُ
اوونیل موسی اے ربه زما	بیشکه زهٔ چې یم	وژلې دې ما	دهغوئ نه	یو کس	پس زهٔ یریږم
موسی ﷺ اووئیل ائې زما ربه ! ما د هغوئ نه یو سړې وژولې وو					.....زه د دې نه ویریږم

Scanned with Ca

اَنۡ يَّقۡتُلُوۡنِ ۖ	وَاَخِىۡ هٰرُوۡنُ	هُوَ اَفۡصَحُ	مِنِّىۡ	لِسَانًا
چې قتل به کړي مالره	او رور زما هارون	هغه زیات فصیح دي	زمانه	په لحاظ دژبې سره
چې ما به قتل کړي	اوزما د رور هارون ﷺ ژبه زما نه زیاته روانه چلیږي	په دې وجه ته هغه		
فَاَرۡسِلۡهُ	مَعِىَ	رِدۡاً	يُّصَدِّقُنِىۡۤ	اِنِّىۡۤ	اَخَافُ
پس اولیږه هغه	زما سره	مددګار	چې تصدیق کوی زما	بیشکه زه	یریږم
ماسره زما مددګار جوړ کړه	چې هغه زما تصدیق اوکړي	ماسره داویره ده چې هغوئ به			
اَنۡ يُّكَذِّبُوۡنِ ۖ	قَالَ	سَنَشُدُّ	عَضُدَكَ	بِاَخِيۡكَ
چې هغوئ به دروغ اوګڼي مالره	اووئیل الله	محکم به کړو مونږه	امتې (لاس) ستا په رور ستا سره	
مادروغژن اوګڼي	الله ﷻ اوفرمائیل چې مونږ به ستا د رور په ذریعه ستا متې مضبوطې کړو			
وَنَجۡعَلُ	لَـكُمَا	سُلۡطٰنًا	فَلَا يَصِلُوۡنَ	اِلَيۡكُمَا ۚ
او دربه کړو مونږ	تاسو لره	طاقت	پس نه به شي رسولې	تاسو ته (څه نقصان)
اوتاسو دواړو ته به غلبه درکړو	.....نوهغوئ به درته په نقصان سره نشي دررسیدې			
بِاٰيٰتِنَاۤ ۚ	اَنۡتُمَا	وَمَنِ	اتَّبَعَكُمَا	الۡغٰلِبُوۡنَ ۖ
په سبب دایتونو زمونږ	تاسو دواړو	او هغه څوک	چې پیروی ئې او کړه ستاسو	به غالب وی
زمونږ د نخښو په وجه به تاسو دواړه اوچې چا ستاسود دواړو تابعداری اوکړه غالب راځی				

قوله تعالی:- قَالَ رَبِّ اِنِّىۡ قَتَلۡتُ مِنۡهُمۡ نَفۡسًا

دموسی ﷺ نبوت اوبعثت اود خپل رور دَ پاره دَ مقام نبوت دعا:- داتیرشوچه موسی ﷺ دفرعون د ویرې نه د هغۀ ښارنه تختیدلې وو،کله چه الله ﷻ ورته دهغه ځائې اوهغوی ته دنبی په طور دتلو دپاره اوفرمائیل نودوی ته هغه هرڅه رایادشو،اوعرض ئې اوکړوچه ای الله زمادلاسه دهغۀ دیوکس ساه وتلې وه نوهسې نه دبدلې په نامه هغه زماپه مرګ پسې اونه لګی.دحضرت موسی ﷺ دوړوکوالی په زمانه کښې چه کله ددوی ﷺ په وراندې دتجربې په طوریوه سکروټه اویوه کهجوره یایوه ملغلره کیښودې شوې وه نودوی سکروټه رانیولې وه،اوپه خوله کښې ئې اچولې وه.ددې دوجې نه دهغۀ په ژبه کښې نقص پاتې شوې وو، اوهم ددې وجې نه دۀ دخپلې ژبې دپاره دالله تعالی نه دعاغوښتلې وه چه زمادژبې لړونه کهولاو کړه.چه خلق زماپه خبره پوهه شی. اوزمارورهارون زماوزیرجوړکړه،دې سره زمامتې مضبوطې کړه او هغه زماپه کارکښې شریك کړه،چه دنبوت اورسالت فریضه اداشی.اوستابندګانوته ستادلونیوالې دعوت ورکړې شو،دلته هم ددۀ نه دادعانقل ده،چه دوی ﷺ اوفرمائیل چه زمارورهارون زماسره خپل رسول جوړکړه چه هغه زماملګرې اووزیرشی.هغه زماپه خبرو د خلقو باوورراولی چه زمامتې مضبوطې وی اوزمازړۀ ډاډه وی.اوداخبره هم ده چه دوه اوازونه دیواوازپه نسبت زیات مضبوط اودائرنه ډک وی.که زۀ یواخې وم نوویره ده چه چرته هغوی زماخبره ردنه کړی.اوکه هارون ﷺ راسره وونوزماپه خبرو به خلق پوهوی،جناب باری ارحم الراحمین ورته جواب ورکړوچه سوال منظوردې اومونږ به ستادورپه وجه تاته مدد درکړو،اوهغه به هم ستاسره نبی جوړکړو.

څنګه چه په بل ایت کښې دی(قداوتیت سؤلك یاموسی) ای موسی استاسوال پوره کړې شو،په بل ایت کښې دی چه مونږپه خپل رحمت هغه اودهغۀ رورهارون نبی جوړکړو.لکه دمشرانوویناده چه هیڅ یورورپه

خپل رورباندې هغه احسان اونه کړوکوم چه ﷲموسی علیه السلام په خپل رورهارون علیه السلام باندې کړې وو،الله ﷻ ته ئې دعااوکړه اوهغه ئې نبی جوړکړو،دادموسی علیه السلام دلونې بزرګې دلیل دې.چه الله ﷻ ددۀ داسې دعاهم ردنه کړه.واقعې دې دالله ﷻ په نزدډیرې اوچتې مرتبې واله وو،بیافرمانی چه مونږ به تاسو ته زبردست دلیلونه اوکامل ثبوتونه درکړوفرعونیان تاسوته هیڅ تکلیف نه شی درکولې،ځکه چه تۀ زماپیغام زما بندګانو ته رسولووالله ئې.داسې زۀ دخپلودشمنانونه محفوظ ساتم.ددوی مددګاراو حمایتی زۀ په خپله جوړ شم.انجام کارداچه ته اوستامنونکی به غالبه راځی ځنګه چه فرمان دې،الله تعالی لیکلی دی چه زۀ اوزمارسولان به غالب راځی.اوالله قوت والا تعالی عزت والا دې.

بل ایت کښې دی (اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا)الخ...مونږ دخپلورسولانواوایمان والوددنیاپه ژوندکښې هم مددکوو الخ. دابن جریرmپه نزددې ایت معنی داده چه زمونږپه ددرکړې غلبې په وجه به فرعونیان تاسوته تکلیف دراونه رسوی.اوزمونږ ددرکړې شوې ایتونوپه وجه به غلبه هم تاته حاصله وی.خومخکښې چه کوم مطلب بیان شودهغې نه هم داثابته ده نوددې څه حاجت نشته.والله اعلم.

فَلَمَّا	جَآءَهُمْ	مُّوْسٰى	بِاٰيٰتِنَا	بَيِّنٰتٍ	قَالُوْا
پس هر کله چې	ورغې هغوئ ته	موسی	دښنو زمونږ سره	چې څرګندې دی	نو اووئیل هغوئ
نوهرکله چې موسی علیه السلام هغوئ ته زمونږ ښکاره دلیلونو سره لاړل					نو هغوئ اووئیل
مَا هٰذَاۤ	اِلَّا	سِحْرٌ	مُّفْتَرًى	وَّمَا سَمِعْنَا	بِهٰذَا
نه دې دا	مګر	جادو دې	دغانه جوړ کړې شوې	اونۀ دی اوریدلې مونږه	دا خبرې
چې دا خودغانه جوړشوې جادو دې				او مونږ داسې خبرې چرته د پلار نیکه	
فِيْۤ اٰبَآئِنَا	الْاَوَّلِيْنَ ۝	وَقَالَ	مُوْسٰى	رَبِّيْۤ	اَعْلَمُ	بِمَنْ جَآءَ
په پلارانو زمونږ	ړومبنو کښې	او اووئیل	موسی علیه السلام	رب زما	ښه خبر دې	دحال دهغه چانه
په وختونو کښې هم نه وې اوریدلې		اوموسی علیه السلام اووئیل چې زمارب هغه څوک ډیر ښه پیژنی				
بِالْهُدٰى	مِنْ عِنْدِهٖ	وَمَنْ تَكُوْنُ	لَهٗ			
چې راوړې دې هدایت	دطرفه دهغه نه	او هغه څوک ښۀ پیژنی	چې وی به هغه لره			
چاچې د هغه (الله) د طرفنه هدایت (نیغه لاره) راوړې دې		اوهغه څوک هم ښه پیژنی چې د هغه دپاره د				
عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ	اِنَّهٗ	لَا يُفْلِحُ	الظّٰلِمُوْنَ ۝			
ښۀ انجام ددنیا	بیشکه	خلاصې نۀ مومی	ظالمان			
اخرت ښکلې انجام دې	بیشکه ظالمان چرې کامیابیدې نشی					

قوله تعالی:- قَالُوْا مَا هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى

دالله تعالی په وحدانیت باندې دقوم حیرانتیا:- حضرت موسی علیه السلام په خلعت نبوت اوکلام باری تعالی سره سرفرازدالله تعالی په حکم باندې مصرته راورسیدو،اوفرعون اودفرعون قوم ته دالله تعالی دوحدت او د خپل رسالت نصیحت کولوسره سره چه الله تعالی ورته کومې معجزې ورکړې وې هغوې ته اوښودلې دتولوسره دفرعون پوره یقین راغې چه بې شکه موسی علیه السلام دالله تعالی پیغمبر دې. خو د مودو غرور او پخوانی کفردسراوچتولونه بغیرپاتې نه شواوژبودزۀ خلاف وئیل شروع کړل،چه داخوصرف مصنوعی جادودې.اوس دخپلې دبدبې اوقوت اوطاقت په وجه دحق په مقابله کښې ښه ټینګ اودریدل.اودالله

Scanned with Ca

تعالی دنبیانومقابله کولوته اماده شو.اووې وئیل چه مونږ کله هم اوریدلې نه دی چه الله تعالی یو دې.اومونږځه زمونږدپلارنیکۀ غوږونه هم ددې خبرې سره اشنانه وو،مونږتولوسره د خپلولو یو او وږود ډیرښتانوعبادت کولوادانوې خبروسره دکوم خوانه راغې،کلیم الله موسی علیه السلام ورته جواب ورکړوچه ما او تاسوالله تعالی ښه پیژنی.اوهم هغه به زمونږاوستاسوپه مینځ کښې فیصله اوکړی. چه په مونږکښې په نیغه لاره څوک دی؟اوڅوک نیك انجامه دی؟ددې علم هم الله تعالی ته دې چه هغه به فیصله اوکړی اوتاسوبه ډیرزراووینئ،چه دالله مددچاسره کیږی؟ ظالم یعنی مشرك کله هم ښه انجام واله او خوشحاله نه وی اوهغه دخلاصی نه محروم دی.

وَقَالَ	فِرْعَوْنُ
او اووئیل	فرعون
.....او فرعون اووئیل	
يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ	فَاَوْقِدْ
اے درباریانو	نۀ دې معلوم ماته ستاسو دپاره یو خدائې غیر زمانه پس بل کړه وور
چې ائې درباریانو ! ماته ستاسو دپاره د خپل ځان نه سوا بل خدائې نه دې معلوم نوائې هامانه زما دپاره	
لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ	
زما دپاره اے هامانه	په خټه باندې اور اولګوه او جوړ کړه مالړه مانړئ دنګه شاید چې زۀ
په خټۀ باندې اور اولګوه (چې پخه شی) اویوه مانړئ راته جوړه کړه کیدې شی	
اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ	مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝
اوخیژم خدائې دموسی ته	او بیشکه زۀ خامخا ګمان کوم په دۀ ددروغژنانونه
چې زه په هغې دموسی علیه السلام خدائې اولیدې شم	.....اوزه خودې (موسی) دروغژن ګنړم
وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ	وَظَنُّوْٓا
او تکبر اوکړو هغه او لښکرو دهغه په زمکه کښې	په ناحقه او خیال اوکړو هغوئ
او فرعون او د هغه لښکرو په ناحقه په زمکه کښې تکبر اوکړو	اودا ئې خیال وو
اَنَّهُمْ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ۝	فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ
چې بیشکه هغوئ به مونږ ته	نۀ واپس کړې کیږی اپس رااونیوو مونږ هغه او لښکرې دهغه
چې چرې به هم مونږ ته پش نشی	.....نومونږ هغه اودهغه لښکرې اونیول
فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ	عَاقِبَةُ
پس اوغورزول مونږ هغوئ په دریاب کښې پس اوګوره څه رنګې وۀ	اخری انجام
اوبیا مو په دریاب کښې اوغورزول ..... نو ته ګوره چې ددغې ظالمانو اخره	
الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَجَعَلْنٰهُمْ اَىِٕمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ	
دظالمانو او جوړ کړل مونږه دهغوئ مشران چې رابلی خلق	وور ته
خاتمه څنګه شوه اومونږ هغوئ پیشوایان جوړ کړی وو چې هم د دوزخ طرفته به ئې خلق رابلل	

Scanned with Ca

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ	لَا يُنْصَرُوْنَ ۝	وَاَتْبَعْنٰهُمْ
او په ورځ دقیامت به	امداد ونکړي شی دهغوئ سره	او روستو اولګوو مونږه په هغوئ پسې
اود قیامت په ورځ به هم د هغوئ څخه مددنشی کولې	اوپه دې دنیا کښې مو ورپسې	

فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا	لَعْنَةً ۚ	وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ	هُمْ	مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ۝
په دې دنیا کښې	لعنت	او په ورځ دقیامت به	وی هغوئ	دقبیح کړې شوو نه (دبدحالونه)
لعنت اولګولو	.....	اودقیامت په ورځ به هم د هغوئ حال ډیر خراب وی		

قوله تعالی:- وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ

دفرعون دحدنه زیاته سرکشی: دفرعون دسرکشئ اودهغۀ دخدایئ ددعوی ذکرکیږی.چه هغۀ دخپل قوم نه بې عقله جوړکړواوپه هغوی ئې خپله دعوی اومنله،دۀ هغه کم ذاته راجمع کړل اواعلان ئې اوکړو چه ستاسو رب زۀ یم.دټولونه اعلی اواوچته هستی هم زماده،ددې په وجه هغه الله تعالی د دنیا او د اخرت په عذابونوکښې راګیرکړلو،اودنورودپاره ئې دعبرت نشان جوړکړو.دې بدذاتوهغه په خدای منلوسره د هغۀ دماغ دې حدپورې اورسولوچه هغۀ کلیم الله حضرت موسی ﷺاورټلواوورته ئې اووئیل چه واوره چه کۀ تازمانه علاوه بل څوک معبودجوړکړونوزۀ به تاپه قیدکښې واچوم.هم په هغه بیکاره خلقوکښې په ناستې سره اودخپل خان په شان خبیث وزیرهامان ته وائی چه تۀ یوه بټئ جوړه کړه اوپه هغې کښې خښتې پخې کړه،اوزمادپاره یواوچت لورمحل جوړکړه چه په هغې اوخیژم اواوګورم چه واقعی د موسی ﷺڅوک خدای شته هم کۀ نه،ګوچه ماته دهغۀ ددرغووئیلوپته ده خوزۀ دهغۀ دروغ ستاسوټولوپه وړاندې ظاهرول غواړم. ﴿يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ۝﴾

فرعون صرف موسی ﷺ دروغژن نه ګنړلو بلکه د الله ﷻ د وجود هم قائل نه وو:- پدې آیت کښې دی چه یو اوچت محل ئې جوړکړو چه دې نه اوچت دنیا کښې چانه وو لیدلې.ده صرف موسی ﷺ دروغ نه ګنړلو بلکه د باری تعالی د وجود هم قائل نه وو. پخپله په قرآن پاک کښې دی چه موسی ﷺ ته ئې اووئیل ددې بیان په ایت ﴿وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ رب العالمین څه دې؟اوهغۀ داهم وئیلې ووچه کۀ تا زمانه علاوه بل څوک الله اومنلونوزۀ به تاقیدکړم.په دې ایت کښې هم دی چه هغۀ خپلودرباریانوته اووئیل چه زماپه علم کښې خوزمانه علاوه بل ستاڅوک الله نشته.کله چه ددۀ اوددۀ دقوم سرکشی دحدنه زیاته شوه اوداللہ ﷻ په ملک کښې دفسادڅه انتهاء پاتې نه شوه نودهغوی عقیدې دکوټه پیسوپه شان شوې دقیامت دحساب نه بالکل منکرشونواخرداللہ تعالی عذابونه په دوی راووریدل. او رب دوی نخښه کړل، او جرړې ئې ورله اوکنستلې،ټول ئې په خپل عذاب کښې راګیرکړل ،اوپه یوه ورځ په یووخت کښې ټول ئې په دریاب کښې غرق کړل.خلقواسوچ اوکړئ چه دظالمانوڅنګه عبرت ناک انجام وی، مونږ هم هغه جهنمیانولره امامان جوړکړی دی چه دوی خلق دهغه کارونوطرف ته رابلی د کوم په وجه چه هغوی داللہ تعالی په عذابونوکښې اوسوزی،څوک چه ددوی په طریقه لاړل هغوی جهنم ته لاړل او چاچه درسولانواونه منل اوداللہ تعالی ئې اونه منل هغه دهغوی په طریقه دې.دقیامت په ورځ به هم د هغوی هیڅ نه چلیږی اونه به ورته دچرته نه څه امدادوراورسی،په دواړه جهانه کښې به دوی په نقصان اوتاوان کښې وی.څنګه چه فرمان دې ﴿اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ۝﴾مونږ هغوی لاندې باندې کړل،اودهغوی هیڅ څوک مددګارنه شو،په دنیاکښې هم دوی لعنتیان شو،داللہ تعالی دهغۀ دفرښتواودهغۀ دنبیانو او د ټولو نیکوبندګانوپه هغوی باندې لعنت دې اوهرښه انسان چه دهغوی نوم واوری نوپه هغوی به لعنت

ورلیږی په دنیا کښې کښې هم دوی لعنتیان شواوپه اخرت کښې به هم دتاوان واله وی،څنګه چه فرمان دی﴿وَاُتْبِعُوْا فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا لَعْنَةً وَّیَوْمَ الْقِیٰمَةِ﴾دلته هم لعنت اوهلته هم لعنت.

وَلَقَدْ	اٰتَیْنَا	مُوْسَی	الْكِتٰبَ	مِنْۢ بَعْدِ	مَاۤ اَهْلَكْنَا
او په تحقیق سره	ورکړو مونږ	موسی ته	کتاب	پس دهغې نه	چې هلاک کړل مونږه
اومونږ موسی علیه السلام ته د پخوانو امتونو د تباه کولو نه پس کتاب (تورات) ورکړو					چې دهغې

الْقُرُوْنَ	الْاُوْلٰی	بَصَآىِٕرَ	لِلنَّاسِ	وَهُدًی
خلق	اولنی	چې سبب درنږ	کولو دزړونو ووْ	دپاره دخلقو
زمانې د خلقو دپاره د هوښیارتیا ذریعه وه				اوسراسر هدایت

وَّرَحْمَةً	لَّعَلَّهُمْ	یَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۳﴾
او رحمت ووْ	دپاره ددې چې خلق تریْ	نصیحت واخلی
اورحمت وو	چې دوئ تریْ نصیحت حاصل کړی	

قوله تعالی:-وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْكِتٰبَ

توراة نه پس یو قوم په اسمانی عذاب نه بلکه د مؤمنانو دلاسه هلاک شوې دی:-پدې ایت کښې یوه لطیف خبره داده چه دفرعونیانودهلاکت نه پس واله امتونه په داسې اسمانی عذاب سره هلاک نه شو،بلکه چه کوم امت سرکشی اوکړه،دهغوی دسرکشئ بدله هم په هغه زمانه کښې دنیکوخلقودلاسه الله ﷻ ورکړه مومنانودمشرکانوسره جهادکولوڅنګه چه فرمان باری تعالی دی﴿وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ﴾ الخ یعنی فرعون اوکوم امتونه چه دهغۀ نه مخکښې تیرشوې ووادالتاکړې شوې کلواوسیدونکی یعنی قوم لوط داټول خلق دغټوغټوغلطومرتکب شوې وو، او دخپلو خپلو زمانو درسولانوپه نافرمانئ پسې ئې ملاتړلې وه نوالله تعالی دوی ټول په ډیره سختئ سره راونیول ، ددې ډلې دهلاکت نه پس هم د الله تعالی انعام په حضرت موسی علیه السلام باندې نازلیدل په کوموکښې چه د یو ډیرلوی انعام ذکردلته دې چه هغوی ته تورات ملاوشو،ددې تورات دنازلیدونه پس هیڅ قوم د اسمان یادزمکې په عذاب باندې هلاک نه کړې شوسوادهغه کلی د مجرمانونه چاچه دالله تعالی دحرمت نه خلاف دخالی په ورځ ښکارکړې ووااوالله تعالی دهغوی نه خنزیران اوبیزوګان جوړکړې وو،داواقعه بیشکه دموسی علیه السلام نه پس ده څنګه چه ابوسعیدخدری رضی الله عنه بیان فرمائیلې دې اوددې نه پس ئې دخپل قول په شهادت کښې دا ایت (ولقداتینا) تلاوت اوفرمائیلو.

په یومرفوع حدیث کښې هم دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی دحضرت موسی علیه السلام نه پس هیڅ یوقوم په اسمانی یازمکې عذاب باندې هلاک نه کړو،داسې عذابونه چه هرڅومره راغلل دهغوی نه مخکښې راغلل،بیاهغوی دایت تلاوت اوفرمائیلو[1] بیائې دتورات صفات بیانیږی چه هغه خلقولره درونډتوب اوګمراهئ نه راویستونکې ووادالله تعالی رحمت وو،چه خلق ددې نه هدایت حاصل کړی اونصیحت هم اوټول په نیغه لارراشی.

وَمَا كُنْتَ	بِجَانِبِ الْغَرْبِیِّ
او نۀ وې ته	په طرف دمغرب
او ته دکوه طور غربی طرف ته موجود نه وې	

[1] حاکم:۴۰۸/۲، البزار۲۲۴۸و سنده صحیح مجمع الزوائد۸۸/۷.

اِذْ	قَضَيْنَآ	اِلٰى مُوْسَى	الْاَمْرَ	وَمَا كُنْتَ	مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۴۴﴾
کله چې	ورکړو مونږ	موسی ته	کار درسالت	اونۀ وې ته	دحاضرینو نه
څه وخت چې مونږ موسی ﷺ ته حکم کولو	او ته په هغو خلقو کښې شامل نه وې کوم چې حاضر وو				
وَلٰكِنَّآ	اَنْشَاْنَا	قُرُوْنًا	فَتَطَاوَلَ		
ولیکن مونږه	راپورته کړل	خلق (نسلونه ډیر دزمانې پورې)	پس اوږده شول (تیر شول)		
بیا مونږ ډیر قومونه پیدا کړل	.....	بیا په هغوئ اوږده زمانه تیره شوه			
عَلَيْهِمُ	الْعُمُرُ	وَمَا كُنْتَ	ثَاوِيًا	فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ	
په هغوئ باندې	عمرونه (زمانه)	اونۀ وې ته	اوسیدونکې	په خلقو دمدین کښې	
.....	اوته دمدین په خلقو کښې هم ډیره نه وې چې زمونږ آیتونه دې ورته				
تَتْلُوْا	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتِنَا	وَلٰكِنَّا	كُنَّا	
چې کنې اورول به د	په هغوئ باندې	آیتونه زمونږ	ولیکن	دا خو مونږه یو	
اورولې	.....	بلکه دا خو هم مونږ یو چې رسولان مو ورته لیږل			
مُرْسِلِيْنَ ﴿۴۵﴾	وَمَا كُنْتَ	بِجَانِبِ الطُّوْرِ	اِذْ نَادَيْنَا		
چې درلیږونکی یو (دهغه وخت خبرونه)	اونۀ وې ته	په طرف دطور کښې	اکله چې آواز اوکړو مونږه		
او نه ته دغه وخت د طور غر په لمنه کښې موجود وې	اکله چې مونږ (موسی ﷺ) ته آواز کړې وو				
وَلٰكِنْ	رَّحْمَةً	مِّنْ رَّبِّكَ	لِتُنْذِرَ	قَوْمًا	
ولیکن (دامعلومات نبودل)	ارحمت دې	دطرفه درب ستانه	دپاره ددې چې ته اویروې	اهغه قوم (خلق)	
خو دا ستا د رب د طرفنه یو رحمت دې	چې ته هغه قوم (دنافرمانئ دنتیجونه) اوویروې	چا ته			
مَّآ اَتٰىهُمْ	مِّنْ نَّذِيْرٍ	مِّنْ قَبْلِكَ	لَعَلَّهُمْ	يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۶﴾	
چې نه دې راغلې هغوئ ته	یو یرونکې امخکښې ستانه	دپاره ددې چې هغوئ انصیحت قبول کړی			
چې ستانه وړاندې څوک ویرونکی نه دې راغلې	د دې دپاره چې دوی ستا نصیحت قبول کړی				
وَلَوْلَآ	اَنْ تُصِيْبَهُمْ	مُّصِيْبَةٌ	بِمَا		
اوکه چرې نه وې داخبره	چې اوبه رسیږی دوئ ته	مصیبت	په سبب دهغو کناهونو		
اوکه چرې داخبره نه وې	چې په دوئ باندې به د خپلو عملونو په وجه مصیبت راغلې وې				
قَدَّمَتْ	اَيْدِيْهِمْ	فَيَقُوْلُوْا	رَبَّنَا	لَوْلَآ اَرْسَلْتَ	
چې مخکښې لیږلې دی	لاسونو ددوئ	نو اوبه وائی	اے ربه زمونږه	ولې را اونۀ لیږوتا	
نوبیا به ئې دا وینا کړې	چې ائې زمونږه ربه ! تا مونږ ته په دنیا کښې				

Scanned with Ca

اِلَيْنَا	رَسُوْلًا	فَنَتَّبِعَ	اٰيٰتِكَ	وَنَكُوْنَ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝
مونږ ته	یو رسول	اچې پیروی کړې وي مونږ	د آیتونو ستا	او شوی وی مونږ	دمومنانونه
ولې پیغمبر نه وو رالیږلی	اچې مونږ ستا په حکمونو عمل کړې وي	اومومنان شوي وي			

قوله تعالى:- وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ

دموسیؑ او نوروپه واقعاتو خبردنبی اکرمﷺ د نبوت دلیل دی:- اللهﷻ دخپل نبی اخرالزمانﷺ د نبوت دلیل ورکوی چه هغه کس چه ان پړه وی چاچه یوحرف هم لوستلې نه وی اودمخکینوکتابونونه نا اشنا وی،دچاقوم چه دعلمی مشغلواوتیرشوې تاریخ نه بالکل بې خبره وی،هغه په تفصیل سره په وضاحت سره اوپه کامل فصاحت اوبلاغت سره بالکل ربښتونی،تینګ اوصحیح تیرشوی واقعات داسې بیان کړی ګنې چه هغۀ په خپلوسترګولیدلې وی.اوګنې چه هغه په خپله دهغې دکیدوپه وخت کښې موجود وو، یا دا د دې امردلیل نه دې چه دادالله تعالی دطرف نه دۀ ته ښودلې کیږی.اوالله تعالی په خپله دخپل د وحی په ذریعه هغه ټولې خبرې وائی.دحضرت مریم صدیقه"ها"واقعه بیانولوکښې هم قران کریم دا څیز پیش کړې دې اوفرمائیلې ئې دی ﴿وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُوْنَ أَقْلَامَهُمْ﴾ الخ. کله چه هغوی دحضرت مریم دپالنۀ دپاره قلمونه دفیصلې دپاره اچول هغه وخت کښې تۀ دهغوی سره موجود نه وې. هرکله چه هغوی په خپلوکښې جهګړه کوله،پس باوجوددعدم موجودګئ اوبې خبرئ ستاسو دا شان واقعه بیانول چه ګویا هغه وخت تۀ هلته موجودوې اوستاپه وړاندې داټول واقعات تیرشوې وو ستا د نبوت کهره دلیل دې. او صفانخښه ده په دې کارباندې چه تۀ دادالله تعالی په وحي باندې وائې.

هم دغه شان ئې دحضرت نوحؑ واقعه بیان کړله ﴿تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ﴾ دادغیب خبرې دی کومې چه مونږ د وحی په ذریعه تاپورې دررسوو.تۀ اوستاټول قوم ددې واقعاتونه بالکل بې خبره وو،اوس په صبرسره ګوره اویقین اوساته چه دالله تعالی نه ویریدونکی نیک انجام وی،دسوره یوسف په اخره کښې هم ارشادشوې دې چه دادغیب خبرې دی کومې چه مونږ دوحی په ذریعه تاته درلیږو،تۀ ددوی په خوا کښې هغه وخت موجودنه وې،کله چه دیوسفؑ رونړوکلکه اراده کړې وه اوپه خپلوتدبیرونوکښې لګیدلې وو، په سوره طه کښې ئې عام طورسره اوفرمائیل ﴿كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ﴾ هم دغه شان مونږپه مخکښې مخکینۍ خبرې بیانوو،پس دلته هم د موسیؑ پیدائش اودهغۀ دنبوت دشروع نه واخله تراخره پورې بیانولوسره اوفرمائیل چه اې محمدﷺ دقبلې دطرف واله غرچرته چه مشرقی اوني دی چه دمیدان په غاړه کښې وې رب العالمین دخپل کلیم سره خبرې اوکړې ته موجودنه وې.بلکه الله سبحانه وتعالی دخپل وحی په ذریعه تاته داټول معلومات درکړل،چه داستادنبوت دلیل شی.په هغه زمانواووختونوباندې کومې چه راروانې دی.اودالله تعالی خبرې هغوی هیرې کړی دی، د تیر شوو نبیانووحی دهغوی دلاسونه ورکې شوې دی.اونه تۀ په مدین کښې اوسیدې چه دهغه خانې دنبی شعیبؑ حالات دې بیان کړې وې چه دهغه سره اودهغۀ دقوم سره واقع شوې وې.بلکه مونږ دوحی په ذریعه داټولې خبرې تاته دراورسولې اودټول جهان طرف ته موته خپل رسول جوړکړې اولیږلې.

د (إِذْ نَادَيْنَا) نه مردد مراد څه وو او راجح قول:- اونه دطورطرف ته وی کله چه مونږ اوازاوکړو.په نسائی کښې دی حضرت ابوهریرهؓ فرمانی چه دااوازاوکړې شو،چه اې امت محمد اتاسوزمانه اوغواړئ ددې نه مخکښې ما تاسوته درکړو،اوتاسوماته دعاګانئ کوئ مادمخکښې نه قبولې کړې[1] مقاتل وائی چه مونږستاامت چه لادخپلوپلارانواونیکانوپه شاګانوکښې وواوازورکړوچه کله تۀ نبی جوکړې شې او

---

[1] حاکم: ۴۰۸/۲.

اولیږلي شي نوهغوی دې ستااتباع اوکړی.قتادm فرمائی،ددې مطلب دادې چه مونږ حضرت موسی ﷺته اوازاوکړو،دازیات مطابقت واله یوشان دې،خکه چه پورته هم دغه ذکردې،پورته عام طور باندې بیان وودلته ئې په خاص طورسره ذکرکړو،څنګه چه په ایت کښې دی(وَاِذْنَادٰی رَبُّكَ مُوْسٰٓی) هر کله چه ستاپروردګارموسی ﷺته اوازاوکړو،په بل ایت کښې دی چه په مقدسه وادئ کښې الله تعالی خپل کلیم ته اوازاوکړو،په بل ایت کښې دی چه دۀ ته مونږ دطورایمن دطرف نه اوازاوکړو،اوپتې خبرې مو ورسره کولې اوخپل قربت مووړته ورکړو،بیافرمائی چه په دې کښې یوه واقعه هم ستا د موجودګئ یا پخپلوسترګولیدلې نه ده،بلکه دادالله ﷻوحی ده چه پخپل رحمت سره په تانازله وی،اوداهم یو رحمت دې چه تۀ ئې دخپل بندګانوطرف ته نبی جوړکړې اووې لیږلې،چه تۀ دوی خبرداره او هوښیار کړې چه چاته ستانه مخکښې څوک نبی نه ووراغلې،چه هغوی نصیحت حاصل کړی.اوهدایت بیا مومی.

قوله تعالی:- وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌ

د رسولانو په راوستولو کښې حکمت:- اوددې وجې نه هم چه دهغوی څه دلیل باقی پاتې نه شی.اوڅه بهانه دهغوی په لاس کښې پاتې نه شی،دوی دخپل کفرپه وجه عذابونولره په راتګ چه اووینی نوچه دا اونه وائی چه دوی لره څوک رسول راغلې نه وو،چه دوی ته ئې دنیغې لارې تعلیم ورکړې وی،اوڅنګه چه په بل ځائې کښې دخپل مبارک کتاب قران مجیددنزول بیان فرمائی،وې فرمائیل چه داڅکه دې چه تاسوداونه وایئ چه کتاب خوزمونږ نه مخکښې په دوۀولوراکوزشوې وو،لیکن مونږ ددې د ښودلواولوستلونه بالکل غافل وو،که په مونږکتاب نازل شوې وې نویقیناًمونږ به ددې نه زیات په نیغه لاره وې،اوس اووائیه چه تاته په خپله ستادرب دلیل اوهدایت اورحمت راغلې دې،په بل ایت کښې دی،رسولان دی زیری ورکولو واله اوویره ولووالله چه ددې رسولانوپس دهیڅاڅه حجت په الله ﷻ باقی پاتې نه شی.په بل ایت کښې ئې اوفرمائیل(يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ) الخ.اې اهل کتاب!هغه زمانه چه درسولانونه په عدم موجودګئ کښې روانه وه زمونږ رسول تاسوته راغې،اوس تاسودانه شئ وئیلې چه مونږ ته څوک ویرونکی اوخوشخبرئ واله نه ووراغلې،واخلئ خوشخبرئ ورکولوواله اوویرونکې تاسوته دالله تعالی دطرف نه راغئ نورایتونه هم ددې مضمون ډیر دی.غرض داچه رسول الله ﷺراغې اوستاسوغذرکټ شو،چه کۀ رسول الله ﷺراغلې وې نومونږ به دهغۀ منلې اومومن شوې به وې.

فَلَمَّا	جَآءَهُمُ	الْحَقُّ	مِنْ عِنْدِنَا	قَالُوْا	لَوْلَآ اُوْتِيَ
پس هر کله چې	راغې هغوئ ته	حق	دطرفه زمونږ نه	نووې وئیل	ولې ورنۀ کړې شو دۀ ته
خو کله چې دې خلقوته زمونږ طرف نه حق اورسیدو			انو دوئ وائی چې دې نبی ته هم هغه څه ولې ورنکړې شو		
مِثْلَ مَآ	اُوْتِيَ	مُوْسٰى ؕ	اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا	بِمَآ	
په شان دهغې	چې ورکړې شوی وو	موسی ته	آیا نۀ دې کړې انکار دې خلقو	په هغې	
چې موسی ﷺ ته ورکړې شوی وو			آیا څه چې ددې نه وړاندې موسی ﷺ ته ورکړې شوې وو		
اُوْتِيَ	مُوْسٰى	مِنْ قَبْلُ ۚ	قَالُوْا	سِحْرٰنِ	تَظٰهَرَا ۫
چې ورکړې شوی وو	موسی ته	مخکښې ددې نه	اوونیل هغوئ	دواړه جادو دې	چې دیوبل امداد کوی
نودوئ د هغې نه انکار اونکړو		څه وخت چې دوئ وئیلی وو		چې دادواړه یو بل سره مدد کونکی جادوګردی	

Scanned with Ca

وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ۝ قُلْ فَاْتُوْا بِكِتٰبٍ

اواوونیل هغوئ | بیشکه مونږه | هر یولره | نهٔ منونکی یو | ورته اووایه | پس راوړئ | یو کتاب

اودا وائی چې مونږ د ټولو نه انکاریان یو | .....(ائې پیغمره) ته ورته اووایه که چرې تاسو

مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ

دطرفه دالله نه | چې هغه | زیات لارښودونکي وی | ددې دواړونه | زهٔ به هم پیروی اوکړم دهغې |

دعوی کښې ریښتونی یئ انو تاسو دالله دطرفنه یوداسې کتاب راوړئ اچې ددې دواړو کتابونو (قران اوتوراة)

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ فَاعْلَمْ

که چرې یئ تاسو | ریښتینی | پس که قبوله نهٔ کړه هغوئ | داخبره ستا | نوپوهه شه

نه په هدایت کښې زیات ښه وی انو زه به هم دهغې پیروی اوکړم ایا که دوئ تاته جواب درنه کړو نوپوهه شه

اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ؕ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ

چې بیشکه | پیروی کوی دوئ | دخواهشاتو خپلو | او څوك دې | ډیر ګمراهه | دهغه چانه |

چې دوئ صرف پخپلو خواهشاتو پسې روان دی | او د هغه سړی نه به زیات ګمراه

اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي

چې روان شو | په خواهشاتو خپلو پسې | بغیر دهدایت | دالله نه | بیشکه الله | لار نهٔ ښائی |

بل څوك وی | چې دالله ﷻ د هدایت نه بغیر دخپل خواهش تابعداری کوی | بیشکه الله ﷻ

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ

قوم(خلقو) | ظالمانوته | په تحقیق سره رسولی ده مونږه | دوئ ته | خبره دنصیحت |

ظالمانو خلقو ته لار نه ښائی | اومونږ خلقو ته پرله پسې خپل حکمونه رالیږو

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝

دپاره ددې چې دوئ | نصیحت قبول کړی |

د دې دپاره چې هغوئ نصیحت قبول کړی |

قوله تعالی:- فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ

دکفارودیوسوال جواب:- مخکښې بیان شوچه کهٔ دنبیانودرالیږلونه وړاندې مونږ په هغوی باندې عذاب رالیږلې نودهغوی به داخبره پاتې شوې وه چه کهٔ مونږ له رسولان راغلې وې مونږ به دهغوی خبره ضرورمنله،ددې وجې نه مونږرسولان اولیږل.خاص کرحضرت محمد ﷺمواخرالزمان رسول اولیږلوس کله چه حضور ﷺهغوی ته ورغې نوهغوی سترګې واړولې،اومخ نې اوګرځولو، او د تکبر او دشمنئ سره سره نې په ضد کولوسره اووئیل چه څنګه حضرت موسی علیه السلام ډیرې معجزې ورکړې شوې وې لکه څنګه چه لرګې اولاس اوطوفان اوملخان اوسپګئ اوچیندخان اووینه اودغلومیووکمې وغیره چه دهغې په وجه د الله تعالی دشمنان تنګ شواودریاب شلول اودوریځې سورې کول،او(من وسلوی) راکوزیدل وغیره، چه زبردستې اولوې لوې معجزې وې دهٔ ته ولې ورنکړې شوې؟الله تعالی فرمائی چه داخلق کومه واقعه د مثال په طورسره پیش کوی اوکومې کومې معجزې غواړی که دوی دمعجزې په خپله د کلیم الله دلاسو په کیدوسره لیدلې وې نوځه ایمان نې راوړې وو،چه اوس ددوی دایمان دراوړلوڅوك

Scanned with Ca

خواهش اوکړی؟ هغوی دټولومعجزوپه صفالیدوسره وئیلي ووچه دادواړه رونړه مونږ دمشرانو د تابعداریٔ نه لرې کول غواړی.اوخپله لوئی په مونږ منل غواړی،مونږپه هیڅ کله هم دوی اونه منو، دوانړونبیانولره ئې دروغژن وئیل،اوپه اخره کښې هلاک کړې شو.نووې فرمائیل چه ددوی مشرانوچه دحضرت موسیٰ﵇په زمانه کښې ئې کفرکړې وواودې معجزولیدوسره ئې صفاوئیلي ووچه دادواړه رونړه جادوګران دی.په خپلو کښې ئې اتفاق کړې دې اوپه مونږ خپل خان مشران جوړولودپاره راغلی دی.مونږ خوپه دوی دواړو کښې یوهم نه منو.

قوله تعالیٰ:- مِثْلَ مَآ أُوْتِيَ مُوْسٰى ؕ

ذکردموسی ﵇ دې خومراد تړې موسی ﵇ او هارون ﵇ دواړه دی:- دلته ذکراګرچه صرف دحضرت موسیٰ﵇ دې خوچونکه حضرت هارون ﵇ د هغۀ سره داسې ملګرې ووچه ګویاهغوی دواړه یووو، نو د یوذکرلره ئې دبل دپاره کافی اوګڼلو،ځنګه چه دیوشاعروینادە،چه کله زۀ دیوخائې اراده کوم نوماته پته نه وی چه هلته به ماته ګټه ملاویږی یابه زمانقصان کیږی؟نودلته هم شاعردخیرلفظ خووئیلي دې خودشرلفظ ئې بیان کړې نه دی.ځکه چه په خیراوشردواړوکښې ملازمت تعلق اومصاحبت دی.مجاهد فرمائی چه یهودیانوقریشوته اووئیل چه تاسوپه حضورﷺدااعتراض اوکړئ هغوی ورته اووئیل اوپه جواب اوریدوسره خاموش پاتې شو. (۱)

قوله تعالیٰ:- سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا ؗ

یوقول داهم دې چه ددواړوجادوګرانونه مراد حضرت موسیٰ﵇اوحضورﷺ دې.یوقول داهم دې چه مرادتړې عیسیٰ﵇ اوحضورﷺ دې. خو په دې دریم قول کښې دوخت ډیرزیات والي دې،او ددویم قول نه اولنې قول زیات مضبوط اوښه دې.اودیرقوی هم دې.واللہ اعلم.

دامطلب د(ساحران) په قرات باندې دې.اودچاقرات چه (سحران) دې هغوی وائی چه مرادتړې تورات او قران دې.(۲) چه دیوبل تصدیق کونکی دی.ځوک وائی چه مرادتړې تورات اوانجیل دې.دچاقول دې چه انجیل اوقران تړې مراددې ،واللہ سبحانه وتعالی اعلم بالصواب.

خوددې په قرات باندې په ظاهره دتورات اوقران معنی ټیک ده.ځکه چه ددې نه پس دالله تعالی فرمان دې چه تاسوددې دواړونه زیات دهدایت واله کتاب دالله تعالی په وړاندې پیش کړئ.چه دهغې تابعداری زۀ اوکړم.تورات اوقران کریم لره اکثرپه یوخائې کښې قران کریم بیان فرمائیلي دې ځنګه چه ئې اوفرمائیل ﴿قُلْ مَنْ أَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ﴾ پس دلته دتورات معنی ئې نوراوهدایت ذکراوفرمائیله،بیائې اوفرمائیل﴿ وَهٰذَا كِتٰبٌ أَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ ﴾اوداکتاب هم مونږ دبرکت واله کړواونازل کړې مودې.اودسورت په اخره کښې ئې اوفرمائیل﴿ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ﴾ بیامونږموسیٰ﵇ته کتاب ورکړو.او فرمان دې چه زمونږ ددې نازل کړې شوې مبارک کتاب تاسو پیروی کوئ،دالله تعالی نه ویریږئ چه په تاسورحم اوکړې شی.

دجنات قول په قران کریم کښې دې،چه هغوی اووئیل ،مونږ هغه کتاب واوریدو چه دموسیٰ﵇نه پس نازل کړې شوې دې.چه دخپل خان نه مخکښې دالله تعالی کتابونولره رښتونې ګرځولووالە دې.دورقه بن نوفل قول دحدیث په کتابونوکښې ذکردې چه هغۀ وئیلي ووچه دې هم هغه دالله تعالی رازداراوپټوخبروباندې پوهیدونکې دې چه دحضرت موسیٰ﵇نه پس ستاسوطرف ته رالیږلې شوې دې.(۳) کوم کس چه په وسیع نظرئ سره دعلم مطالعه کړې وی په هغه داخبره بالکل ظاهره ده چه په

---

(۱) الطبری: ۵۸۸/۱۹.
(۲) ایضًا: ۵۸۹/۱۹.
(۳) صحیح بخاری کتاب بداء الوحی الی رسول الله ﷺ، صحیح مسلم: ۱۶۰.

Scanned with Ca

اسمانی کتابونوکښې دټولونه زیات دعظمت اوشرافت اوعزت اوکرامت واله کتاب هم داقران مجیددې چه الله تعالی حمیداومجیدپه خپل روف ورحیم نبی اخرالزمان ﷺباندې نازل کړو.ددې نه پس دتورات درجه ده،چه په هغې کښې هدایت اونورووچه دهغې مطابق به انبیاء کرامو حکمونه جاری کول،انجیل خوصرف تورات لره پوره کولووالله اوبعضې حراموله حلال کړځولووالله وو،

قوله تعالی:-قُلْ فَأْتُوا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

ددوئ د اعتراض جواب:-ځکه ئې دلته اوفرمائیل چه ددې دواړوکتابونونه بهترکتاب که تاسوالله تعالی په وړاندې پیش کړئ نوزهٔ دهغې تابعداری کولوته تیاریم.بیائې اوفرمائیل چه څه تاسووایئ که هغه هم دوی اونه کړی اونه ستاسوپه تابعدارئ کښې راشی نوپوهه شه چه دوی ددلیل اوبرهان څه حاجت نشته،دوی صرف جګهړه کونکی دی اودخواهش غلامان دی.اوظاهره ده چه دخواهش دپابندو خلقوچه دربانی هدایت نه خالی وی نه زیات څوك ظالم نه دې.په دې کښې توجه کولوسره چه کوم خلق پخپلوخانونوباندې ظلم اوکړی هغوی تراخره پوری دنیغې لارې محروم پاتې شی.مونږ ددوی دپاره تفصیلی قول بیان فرمائیلې دې اوواضحه موکړه،اوښکاره موکړه.مخکینئ اوروستنئ خبرې مووبیان کړې،نودقریشوپه وړاندې موهرڅه ظاهرکړل[1] بعضې ددې مرادرفاعه اخلی اودهغهٔ سره نهه نور کسانوهم.دارفاعه دحضرت صفیه بنت حیی رضی الله عنها ماماوو،چاچه تمیمه بنت وهب ته طلاق ورکړې وو، د چاچه دویمه نکاح دعبدالرحمان بن زبیر رضی الله عنه سره شوې وه.

اَلَّذِيْنَ	اٰتَيْنٰهُمُ	الْكِتٰبَ		
هغه کسان | چې ورکړې وو مونږ هغوئ ته | کتاب				
چا ته چې مونږ (دقران مجید) نه مخکښې کتاب ورکړې دې				
مِنْ قَبْلِهٖ	هُمْ	بِهٖ	يُؤْمِنُوْنَ ۝	وَاِذَا	يُتْلٰى	عَلَيْهِمْ	قَالُوْٓا
مخکښې ددې نه | هغوئ | په دې قران	| ایمان راوړی |	او کله چې | اوروله کیږی | هغوئ ته | نو وائی					
.....هغوئ په دې (قران) باندې هم ایمان راوړی | او کله چې ورته قران لوستلې شی | نو دوئ وائی							
اٰمَنَّا	بِهٖٓ	اِنَّهُ الْحَقُّ	مِنْ رَّبِّنَآ	اِنَّا كُنَّا			
چې ایمان راوړو مونږه | په دې باندې | بیشکه چې دا حق دې | دطرفه درب زمونږ نه | بیشکه وو مونږه							
چې مونږ په دې ایمان راوړې دې | چې دا زمونږ د رب د طرفه حق دې | مونږ خو (ددې دراتلونه)							
مِنْ قَبْلِهٖ	مُسْلِمِيْنَ ۝	اُولٰٓئِكَ	يُؤْتَوْنَ	اَجْرَهُمْ			
مخکښې ددې نه | مسلمانان | دا کسان چې دی | ورکړې کیږی به دوئ ته | اجر ددوئ							
وړاندې تابعدار وو | ....دغه خلقو ته به د دوئ د صبر به وجه دوه ځله							
مَّرَّتَيْنِ	بِمَا	صَبَرُوْا	وَيَدْرَءُوْنَ	بِالْحَسَنَةِ			
دوه ځله | په سبب دهغې | چې صبر اوکړو دوئ | او منع کوی دوئ | په نیکئ سره |							
ځله ثواب ورکولې شی | .....او دوی د نیکئ په ذریعه بدی لری کوی							

[1]) الطبری:۱۹/۵۹۳-۵۹۴.

Scanned with Ca

السَّيِّئَةَ	وَمِمَّا	رَزَقْنٰهُمْ	يُنْفِقُوْنَ۝	وَاِذَا
بدئ لره	او دهغه رزق نه	چې ورکړي دي مونږ دوئ ته	خرچ کوی دوئ	او کله چې
اومونږ چې دوئ ته څه ورکړی دی د هغې نه خرچ کوی				او هرکله چې
سَمِعُوا	اللَّغْوَ	اَعْرَضُوْا	عَنْهُ	وَقَالُوْا	لَنَآ	اَعْمَالُنَا
واوریده هغوئ لغبث خبره	انو مخ ئې واړوو	دهغې نه	اووې وئیل	مونږه لره دی	عملونه زمونږه
عبث خبره واوری	انو مخ ترې نه اوګرځوی	او وائی چې زمونږ دپاره خپل عملونه دی				
وَلَكُمْ	اَعْمَالُكُمْ	سَلٰمٌ	عَلَيْكُمْ	لَا نَبْتَغِي
او دی تاسو لره	عملونه ستاسو	سلامتیا دوی	په تاسو باندې	نه غواړو مونږه
اوستاسو دپاره ستاسو عملونه دی	زمونږ د طرفنه په تاسو سلام دې	مونږ د جاهلانو (ملګرتیا)		
الْجٰهِلِيْنَ۝				
طریقه دجاهلانو				
نه غواړو				

قوله تعالی:- اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ

اهل کتاب ته په نیکوعملونوباندې دوه اجره:- اهل کتاب عالمان چه په اصل کښې دالله ﷻ دوستان وو، د هغوی پاکیزه اوصاف بیانیږی. چه هغوی قران منی. څنګه چه فرمان دې، چاته چه مونږ کتاب ورکړو، او هغوی په پوهه سره لولی، دهغوی خوپه دې قران باندې ایمان دې. په بل ایت کښې دی چه بعضې اهل کتاب داسې هم دی چه دالله تعالی دمنلوسره ستاطرف ته نازل کړې شوې کتاب اوخان طرف ته نازل شوې کتاب هم منی. اودالله تعالی نه ویریږی. په بل ځائې کښې دی چه داسې اهل کتاب هم شته چه زمونږ دقران ایتونه واوری نوپه سجده کښې پریوځی اوپه ژبې سره وائی ﴿سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا۝﴾ په بل ایت کښې دی ﴿وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى﴾ الایه :یعنی دمسلمانانوسره په دوستئ کولوپه اعتبارسره به تاسوپه خلقوکښې نزدی هم دوی بیامومئ. چه خپل خان ته نصاری وائی. ځکه چه په دوی کښې عالمان او مشائخ دی. اوداخلق دکبراوغرورنه خالی دی. اودقران په اوریدو سره په ژړاشی. اواووائی چه زمونږ ایمان دې الله تعالی دې مونږ لره هم ددین دمنلووالو اولیکی. سعید بن جبیر﵁ فرمائی چه دچاپه باره کښې دافرمائیلې شوې دی دااویابزرګ عالمان وو، چه دحضور ﷺ په خدمت کښې دنجاشی دطرف نه رالیږلی شوې وو. حضور ﷺ هغوی ته سوره یاسین واورولو، چه دهغې په اوریدوسره هغوی په ژړاشو، اومسلمانان شو. دهغوی په باره کښې داایتونه نازل شو، چه هغوی ددې داوریدوسره دخپل موحداومخلص کیدواقرارکوی. اوقبلولوسره مومنان اومسلمانان شی. ددوی ددې صفتونه په وجه الله ﷻ دوی ته دوچنده اجرورکوی. اولنې دکتاب دمنلواودویم ددې قران دتسلیم کولو اوپرې دعمل کولو. دوی دحق په اتباع باندې ثابت قدمی کوی چه په اصل کښې یوسخت اواهم کاردې.

دری قسمه خلقوته دوچنده ثواب ملاویږی:- دحضور ﷺ ارشاددې چه دری قسمه خلقوته دوچنده ثواب ملاویږی. اهل کتاب چه دخپل نبی دمنلوسره بیاپه ماباندې ایمان راوړی. غلام اونوکرچه دخپل مجازی مالك دحکم پوره کولوسره سره دالله تعالی دحق اداکول هم کوی. اوهغه کس دچاسره چه یو وینځه وی

چه هغې ته علم اوادب اوښائی بیاهغه ازاده کړی اونکاح ورسره اوکړی([1])قاسم سیدنا بن ابو امامهؓ وائی چه دمکې دفتح کیدوپه ورځ زه درسول اللهﷺسره جخت بالکل دسورلئ په خواکښې وم.حضورﷺ دیرې ښې خبرې ارشاداوفرمائیلې چه په هغې کښې ئې داهم اوفرمائیل چه په یهودواونصاروکښې څوك مسلمان شی دهغۀ دپاره دوچنده اجردې .اودهغۀ دعام مسلمانانو برابر حقوق دی.([2]) بیادهغوی نیك خوئیونه بیانیږی.چه دوی دبدئ بدله په بدئ سره نه اخلی.بلکه معاف کول کوی. اودرګزر کوی.اوهم نیك سلوك کوی.اوخپلې حلالې روزئ دالله تعالی په نامه خرچ کوی.اودخپلو ماشومانو د رزق خیال هم ساتی.زکواة،صدقات،خیرات کښې هم دشومتیانه کارنه اخلی.دفضول خبرونه خانونه بچ ساتی.دداسې خلقوسره دوستئ نه کوی دداسې مجلسونونه لرې اوځی،بلکه که چرته پرې ناګهانه ورشی نوپه شرافت سره پرې تیرشی.دداسې خلقوسره ناسته پاسته اودوستانه نه کوی صفاورته وائی چه ته څه کوې هغه تاسره اوزمونږ عمل زمونږ سره یعنی دجاهلانوسختې خبرې هم برداشت کوی.هغوی ته داسې جواب نه ورکوی چه هغوی پرې نورهم غصه شی بلکه چشم پوشی پرې کوی.اوچل ورسره کوی. چونکه پخپله پاك نفس والادی ددې وجې پاکیزه کلام دخولې نه اوباسی.وائی چه په تاسودې سلامتیاوی،مونږ نه دجاهلانوپه لاره څو،اونۀ دجهالت تګ خوښوؤ.

رسول ګریم ﷺ ته د حبشی وفد او دهغوئ ایمان راوړل اود ابوجهل په پیغور ددوئ جواب:-ابن سحاقؒ فرمائی چه حضورﷺته دحبشې نه تقریباًشل نصرانیان راغلل،حضورﷺپه هغه وخت کښې په جومات کښې تشریف فرماوو.دوی دلته کښیناستل.اوخبرې اترې ئې شروع کړې.دغه وخت قریش په خپلو خپلو بیټکونو کښې دکعبې نه ګیرچاپیره ناست وو.دې عیسائی عالمانوچه کله سوالونه اوکړل او د جوابونوسره دهغوی تسلی اوشوه نوحضورﷺدهغوی په وړاندې دین اسلام پیش کړو.اودقران کریم کریم تلاوت ئې هغوی ته واورولو.چونکه داخلق تعلیم یافته اودروښانه دماغووالاه وو،قران ددوی په زړونو اثر اوکړواودهغوی دسترګونه اوښکې په بهیدوشوې.دوی فوراً دین اسلام قبول کړو.اوداللهﷻ تعالی په رسولﷺ باندې ئې ایمان راوړو.ځکه چه په حضورﷺکښې کوم کوم صفتونه هغوی په خپلواسمانی کتابونو کښې لوستلې ووهغه ټول ئې په حضورﷺکښې موجودبیاموندل.کله چه داخلق د حضور ﷺ د خوانه واپس تلل نوابوجهل لعنتی دخپلوملګروسره دوی سره په لاره کښې ملاوشو.او ټولو قریشیانوپه شریکه دوی ته پیغورنه کول اوبدردئې ورته وئیل.چه ستاسونه زیات بدترین وفدمونږ د هیڅ یوقوم نه وو لیدلې.ستاسوقوم تاسوددې کس دحالاتومعلومولودپاره راولیږلئ اودلته چه تاسو راغلئ نوخپل د پلار نیکۀ مذهب موپریښودو،اودهغۀ رنګ په تاسوسورشوچه په لږ شان وخت کښې مو خپل دین بدل کړواودهغۀ کلمه مواووئیله.ستاسونه زیات بې وقوفه خومونږ هډوځوك لیدلې نه وو وغیره وغیره. هغوی داهرڅه په تسلئ سره واوریدل اوجواب ئې ورکړوچه مونږ تاسوسره دجاهلانوپه شان خبرې کول نه خوښوؤ،زمونږ دین زمونږ سره اوستاسومذهب تاسوسره،مونږ چه په کومه خبره کښې خپله ښیګړه اولیدله هغه موقبوله کړه.داهم وئیلې کیږی چه داوفددنجران دعیسائیانووو .والله اعلم.

داهم وئیلې شوې دی چه داایتونه هم دهغوی په باره کښې نازل شوی دی.دامام زهری رحمہ اللہ نه ددې ایتونودشان نزول په باره کښې تپوس اوکړې شونوهغوی اوفرمائیل،ماخودخپلوعالمانونه هم دغه اوریدلې دی چه داایتونه دنجاشی اودهغۀ داصحابوؓپه باره کښې نازل شوی دی.اودسوره مائده ایتونه﴿ذٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِيْنَ وَرُهْبَانًا﴾ نه﴿ مَعَ الشّٰهِدِيْنَ۝﴾پورې ایتونه هم ددوی په باره کښې نازل شوی دی.

---

[1]) صحیح بخاری کتاب العلم باب تعلیم الرجل امته واهله:۹۷، صحیح مسلم:۱۵٤،ابوداؤد:۲۰۵٤، ترمذی:۱۲۱٦ ابن ماجه:۱۹۵٦، احمد:٤/۳۹۰، ابن حبان:۲۲۷.

[2]) احمد:۵/۲۵۹ ج ۲۲۲۳٤، تفسیر طبری: ۱٤۲/۲۷ وسنده حسن.

Scanned with Ca

إِنَّكَ	لَا تَهْدِي	مَنْ	أَحْبَبْتَ	
بیشکه ته چې نې	نشې ښودلې لارته	هغه چاته	چې خوښوې نې ته	
.....(ائې محبوبه) ته چې چاته غواړې (پخپلې خوښې) سره هدایت نشې کولې				
وَلَٰكِنَّ اللَّهَ	يَهْدِي	مَنْ	يَشَاءُ ۚ	وَهُوَ أَعْلَمُ
ولیکن الله	ښائی لار	هغه چاته	چې غواړی نې هغه	او هغه ښه عالم دی
بلکه الله ﷻ چې چاته هدایت کول اوغواړی نو هدایت ورته کوی				اوهدایت قبلوؤنکی هغه ته
بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾	وَقَالُوا	إِنْ	نَتَّبِعِ	الْهُدَىٰ
په هدایت موندونکو باندې	اووائی دوئ	که چرې	پیروی اوکړه مونږه	دهدایت (دحق لارې)
ښه معلوم دی	.....او دوئ (تاته) وائی که مونږ تاسره د دې هدایت تابعداری اوکړو			
مَعَكَ	نُتَخَطَّفْ	مِنْ أَرْضِنَا ۚ	أَوَلَمْ نُمَكِّنْ	لَّهُمْ حَرَمًا
ستاسره	نواوبه ویستلې شو	دزمکې زمونږ نه	آیا نه دې ورکړې مونږ	دوئ ته حرم
نو د خپل ملک نه به اوشړلې شو	آیا مونږ د دوئ د استوګنې دپاره حرم د امن ځائې نه دې ګرځولې			
آمِنًا	يُجْبَىٰ	إِلَيْهِ	ثَمَرَاتُ	كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا	مِّنْ لَّدُنَّا
خائې دامن	چې راچلولې کیږی	هغې ته	میوې	دهر څیز	رزق	دطرفه زمونږ نه
.....چې دې ته هر قسم میوې (د ضرورت څیزونه) رارسولې شی					ادازمونږ د طرفنه ددوئ رزق دې	
وَلَٰكِنَّ	أَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾				
ولیکن	زیات خلق ددوئ	نه پوهیږی				
خوپه دوئ کښې زیات خلق په دې خبره نه پوهیږی						

قوله تعالی:- إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ

هدایت ورکول دنبی په اختیارکښې نه دی: ای نبی اځوک دهدایت طرف ته راوستل ستادوس کارنه دې، ستاکارخوصرف دالله تعالی دپیغام رسول دی.دهدایت مالك رب دې.هغۀ چه په خپل حکمت سره څوک اوغواړی دهدایت دقبلولوتوفیق ورکوی، څنګه چه فرمان دې ﴿لَيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ﴾ ستاپه ذمه ددوی هدایت نه دې که هغه اوغواړی نۆهدایت ورکړی.په بل ایت کښې دی ﴿وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾﴾ ګوکۀ ته هرڅومره طمع اوساتې خوپه دوی کښې اکثرایمان نه راوړونکی دی دادالله ﷻ په علم کښې دی چه د هدایت حقدارڅوک دې؟اودضلالت حقدارڅوک دې.بخاری اومسلم کښې دی چه داایت درسول الله ﷺ د تره ابوطالب په باره کښې نازل شوې وو.چه دحضور ﷺ یرزیات طرفتدارروو،اوپه هره موقعه به نې د حضور ﷺ مدد کولو.اودحضور ﷺ ملګرتیابه نې کوله،اوپه زړۀ سره به نې محبت کولو،خودامحبت درشته دارئ په وجه طبعی ووشرعاً نه وو،کله چه دهغۀ دمرګ وخت رانزدې شونوحضور ﷺ هغۀ ته اسلام ته د راتلودعوت ورکړو.اودایمان راوړلورغبت نې ورکړو، خو د تقدیرلیك او دالله تعالی خوښه غالبه شوه اودې دلاسونه اوخویدو،اوپه کفریاندې پاتې شو. حضور ﷺ دهغۀ دوفات په وخت دهغۀ خواته راغې ،ابوجهل اوعبدالله بن ابی امیه هم دهغۀ په خواکښې ناست وو، حضور ﷺ ورته اوفرمائیل(لااله الاالله) اووائیه،زۀ به ددې په وجه دالله تعالی په دربارکښې ستادپاره سفارش کونکې جوړشم.ابوجهل او

Scanned with Ca

عبدالله ورته اووئيل،ابوطالبه،اياتهٔ به دخپل پلارعبدالمطلب د مذهب نه اوګرځي،حضورﷺبه پوهولو اوهغوی دواړوبه منع کولو،تردې پورې چه اخری کلمه دهغهٔ دخولې نه هم دااوته چه زهٔ داکلمه نه وائيم، اوزهٔ دعبدالمطلب په مذهب باندې يم.حضورﷺورته اوفرمائيل چه بهتره ده زهٔ به ستادپاره دالله تعالی په دربارکښې استغفارکوم ،اودابله خبره ده کهٔ زهٔ منع کړې شوم يالله تعالی مامنع کړی.ليکن هم هغه وخت ايت نازل شو(كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى)يعنی نبی اومومنانو سره هيڅ کله دا خبره نه ښائی چه هغوی دمشرکانودپاره استغفاراوکړی خواه کهٔ ددوی نزدې رشته دار هم ولې نه وی.اوهم ددې ابوطالب په باره کښې داايت(اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ) هم نازل شو.([1]) ترمذی وغيره کښې دی چه ابوطالب ته ځنکدن په وخت کښې حضورﷺاوفرمائيل چه اې زماترهٔ(لااله الاالله) اووانيه زهٔ به ددې دقيامت په ورځ ګواهی ورکړم،نوهغهٔ ورته اووئيل چه کهٔ ماسره دخپل خاندان قريش ددې پيغور ويره نه وې چه هغهٔ دمرګ دويرې نه داکلمه اووئيله نومابه داوئيلې وې اوستاسترګې به مې يخې کړې وې.مګربيابه مې هم ستادخوشحالولودپاره وئيله،په دې دااايت نازل شو([2])په دويم روايت کښې دی چه په اخره کښې هغهٔ دکلمې وئيلونه انکاراوکړو.اوصفائي اووئيل چه زماورارهٔ زهٔ خودمشرانوپه لاره باندې يم،اوهم پدې خبره دهغهٔ مرګ راغې،چه هغهٔ دعبدالمطلب په مذهب باندې دې.دقيصر استاذې چه کله دحضورﷺپه خدمت کښې حاضر شو اودقيصر خط ئې دحضورﷺ په خدمت کښې پيش کړونو حضورﷺهغه په خپل غيږ کښې کيښودواوهغهٔ ته ئې اوفرمائيل چه تهٔ دکومې قبيلې نه ئې؟هغهٔ ورته اووئيل دتنوع تبرج قبيلې کس يم.حضورﷺورته اوفرمائيل ستاارادهٔ دهٔ چه تهٔ دخپل پلار ابراهيم ﷺ دين باندې راشې؟هغهٔ ورته جواب ورکړوچه زهٔ دکوم قوم استاذې يم ترڅوپورې چه هغوی ته د هغوی د پيغام جواب وراونهٔ رسوم دهغوی مذهب پريخودې نه شم.نوحضورﷺمسکې شو او خپلو اصحابوطرف ته ئې اوکتل اودااايت ئې اولوستلو. ابن ابی حاتم رسول قيصر پورې حسن دې خود رسول قيصر مسلمان کيدل ثابت نه دی نودا روايت مردود دې. سعيد ترمذی او ابن حبان ثقه او صدوق ګرځولې دې نو په قول راجح کښې هغه حسن الحديث دې) مشرکانوبه دخپل ايمان نه راوړولو يوه وجه داهم بيانوله چه کهٔ مونږ ستار اوړې شوې هدايت اومنونومونږ سره ويره ده چه ددې دين مخالف چه زمونږ ګير چاپيره دی اوپه شمير کښې زمونږ نه ډيرزيات دی هغوی به زمونږ دشمنان جوړ شی اومونږ ته به تکليف رااورسوی او مونږ به برباد کړی.الله تعالی فرمائی چه ددوی داحيله هم غلطه ده الله تعالی دوی په حرم محترم کښې ساتلې دی کوم ځائې کښې چه ددنيادشروع کيدونه واخله تراوڅه پورې امن او امان دې ،نوداڅنګه کيدې شی چه په حالت کفرکښې خودلته په امن سره اوڅی اوکله چه دالله تعالی ربښتونې دين قبول کړی نوامن اوچت شی؟هم دغه خوهغه ښاردې چه دطائف وغيره مختلفوځائيونونه ميوې،سامان،اسباب،مال تجارت وغيره تګ راتګ دلته په کثرت سره وی ،ټول ځيزونه دلته راځی، اومونږ دوی ته په ناسته روزئ وررسوو،خوپه دوی کښې اکثريت دبې علمودې،ددې وجې داقسمه فضول حيلې اوبې ځائيه عذرونه پيش کوی،روايت دې چه داوئيونکې حارث بن عامربن نوفل وو.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا
او څومره ډير هلاك کړی دی مونږه
.....اومونږ داسې ډير کلی تباه کړی دی

[1]) صحيح بخاری کتاب الجنائز باب قال المشرك عندالموت لااله الاالله: ۱۳۶۰، صحيح مسلم: ۱۰۲۴، احمد:۵/۴۳۳، ابن حبان: ۹۸۲. (صحيح مسلم وغيره)

[2]) صحيح مسلم کتاب الايمان باب دليل على صحة الاسلام من حضره الموت:۲۵،ترمذی:۳۱۸۸

مِنْ قَرْيَةٍ	بَطِرَتْ	مَعِيْشَتَهَا ۚ	فَتِلْكَ	مَسٰكِنُهُمْ
داسې کلی | چې مست شوی وۀ | په روزګار دژوند خپل باندې | پس دغه دی | کورونه دهغوئ |				
چې د ژوند په روزګار ځان ته غاوره شوی وو | نودا ددوئ (تباه شوی) کورونه (ستاسو په وړاندې) دی				
لَمْ تُسْكَنْ	مِّنْۢ بَعْدِهِمْ	اِلَّا قَلِيْلًا ؕ	وَكُنَّا	نَحْنُ
چې نۀ دی اوسیدلی پکښې | روستو دهغوئ نه | مګر ډیر لږ | اویو مونږه | خاص هم مونږه |				
چې د هغوی نه پس ډیر کم اباد شوی دی | .....اواخر هم مونږ ئې وارثان				
الْوٰرِثِيْنَ ۝	وَمَا كَانَ رَبُّكَ	مُهْلِكَ	الْقُرٰى	حَتّٰى يَبْعَثَ
وارثان | اونۀ دې رب ستا | هلاکونکې | دکلو | تر هغې پورې | چې اولیږی |				
شو | .....اوائې زما محبوبه) ستارب تر هغې وخته پورې کلی نه تباه کوی ترڅو چې د هغې په مرکز				
فِيْٓ اُمِّهَا	رَسُوْلًا	يَّتْلُوْا	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتِنَا ۚ
په لوئ ښار (مرکز) دهغې کلو کښې | یو رسول | چې لولی | په هغوئ باندې | ایتونه زمونږ |				
کښې څوک پیغمبر راونه لیږی | .....چې زمونږ ایتونه ورته اولولی				
وَمَا كُنَّا	مُهْلِكِي	الْقُرٰٓى	اِلَّا	وَاَهْلُهَا	ظٰلِمُوْنَ ۝
اونۀ یو مونږه | هلاکونکی | دکلو | مګر هله | چې اوسیدونکی دهغې | ظالمان شی |				
اومونږد یو کلي تباه کونکی نه یو | مګر په دې صورت کښې چې د هغې اوسیدونکی نافرمان وی				

قوله تعالی:-وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا ۚ

دسرکشانوکلی دعبرت نشانونه جورشو:-دمکې والوته خبرداري ورکړې کیږی،څوک چه دالله تعالی ډیر نعمتونه حاصلولوسره غرورکوی اوسرکشی اوځانونه لوی ګڼړی اودالله ﷻ نه کفرکولواونبی انکارئې کولو دالله تعالی روزی خوری اودهغۀ نمک حرامی کوی.هغوی الله ﷻ داسې تباه اوبرباد کړل چه نن د هغوی څوک دتپوس پوښتې واله نشته،په بل ایت کښې دی(وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً)الخ.دلته فرمائی چه ددوی وران کړې شوی کلی تراوسه پورې وران پراتۀ دی.څه لږې شان پکښې هسې ابادې شوې خو دی لیکن ددوی په کنډوباندې تراوسه پورې وحشت وریږی.صرف هم مونږ ددې مالکان پاتې شوې

دسلیمان ﷺ یوې مرغئ سره مکالمه او دهغې جوابونه:-یو،دحضرت کعب ﷺ قول دې چه دالو (ګونګی، یوه مرغئ ده)نه حضرت سلیمان ﷺ تپوس اوکړوچه تۀ دپټې فصل ولې نه خوری؟هغۀ ورته اووئیل، ددې وجې نه چه حضرت ادم ﷺ پرې دجنت نه راویستې شوې وو،تپوس ئې ترې اوکړوچه اوبۀ ولې نه څکې؟څکه چه قوم نوح ﷺ په دې کښې ډوب کړې شوې وو.تپوس ئې ترې اوکړوچه په ورانوکښې ولې اوسیږې؟وې وئیل څکه چه دادالله تعالی میراث دې.بیاحضرت کعب ﷺ(وکنا نحن الوارثین)اولوستلو.

دخبرولو نه وراندې الله ﷻ یوکلي هم نه تباه کوی:بیاالله ﷻ خپل عدل اوانصاف بیان فرمائی چه هغه څوک په ظلم سره نه هلاکوی،اول په هغوی خپل دلیل ختم کړی.اودهغوی غذرلرې کړی.اورسولان رااو لیږی اوترهغوی پورې خپل کلام رااورسوی.ددې ایت نه داهم معلومیږی چه دحضور ﷺ نبوت عام وو. او حضور ﷺ ام القری کښې مبعوث کړې شوې وو.اودتولوعربواوعجموطرف ته رسول رالیږلې شوې وو. څنګه چه فرمان دې(وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا)چه تۀ دمکې والااودنوروښارونووالااوویروې،بیائې اوفرمانیل(قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا) اووانیه چه ای خلقوازۀ ستاسو تولوطرف ته دالله تعالی

Scanned with Ca

رسول یمﷺ په بل ایت کښې دی ﴿لِأُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ﴾ چه په دې قران سره تاسو هم اوویروم اوهرهغه کس ترچاپورې چه داقران اورسی.په بل ایت کښې دی ﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ﴾ددې قران سره په دنیاوالوکښې چه څوک هم کفراوکړی دهغه دوعده ځائ، جهنم دې.په بل ځائ کښې دالله ﷻ فرمان دې ﴿وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا﴾ الخ.یعنی ټولوکلورہ مونږ دقیامت نه مخکښې ورانونکی یو.یاسخت عذاب ورکونکی یو،الخ،پس خبرئ ورکړوچه دقیامت نه مخکښې به هغه ټول کلی بربادکړی.په بل ایت کښې دی چه مونږ ترڅو پورې رسول اونه لیږوعذاب نه ورکوو.پس دحضورﷺ بعثت ئې عام کړو اودټولوجهان دپاره ئې کړو، اوپه مکه کښې کومه چه دټولې دنیامرکزدې حضورﷺ ئې مبعوث اوفرمائیلو اوپه ټوله دنیائ خپل حجت ختم کړو.په بخاری اومسلم کښې د حضورﷺ ارشاد نقل دې چه زهٔ دټولوتوروسپینوطرف ته نبی رالیږلې شوې یم[1] ځکه ئې نبوت اورسالت په حضورﷺ باندې ختم کړو اودحضورﷺنه پس به ترقیامته پورې نه څوک نبی راشی اونه رسول.وئیلې شوې دی چه مراد د(اُمِّ الْقُرٰی) نه اصل اولوې کلې دې.

وَمَآ	اُوْتِيْتُمْ	مِّنْ شَيْءٍ	فَمَتَاعُ	الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
او هغه چې	درکړې شوی دی تاسو ته	څه څیز	پس سامان دې	دژوند ددنیا
اوتاسو ته چې څه (نعمتونه) درکړې شوی دی	هغه ددنیا د ژوند سامان دې	او د دې زیب وزینت		
وَزِيْنَتُهَا ۚ	وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ	خَيْرٌ	وَّاَبْقٰى ؕ	
او ښائیست دې دهغې	اوهغه څه چې دالله سره دی	بهتر دی	او باقی پاتی کیدونکی دی	
دې	..... اوکوم نعمتونه چې الله ﷻ سره دی هغه ډیر ښه اوباقی پاتې کیدونکی دی			
اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ ع	اَفَمَنْ	وَّعَدْنٰهُ	وَعْدًا حَسَنًا	
آیا نو عقل نه چلوئ	آیا پس هغه څوک	چې وعده کړې وی مونږ دهغه سره	وعده نیکه (ښه)	
آیا تاسو خلق نه پوهیږئ ؟ آیا هغه څوک چې مونږ ورسره ښه وعده کړې وی (وعده د جنت)	نو			
فَهُوَ لَاقِيْهِ	كَمَنْ	مَّتَّعْنٰهُ	مَتَاعَ الْحَيٰوةِ	
نودی موندونکې دهغې وی	اپشان دهغه چاکیدې شی	چې ورکړې وی مونږ هغه له	سامان	دژوند
هغه به ئې خامخا بیاموی	نودې د هغه چا په شان کیدیشی چاته چې مونږ د دنیا د ژوند			
الدُّنْيَا ثُمَّ	هُوَ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ	مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ۝	
ددنیا	او بیا	هغه	په ورځ دقیامت	سزا ته دپیش کیدونکونه وی
سامان ورکړې وی	اوبیا به دقیامت په ورځ (ددوزخ) په حاضریدونکو کښې شامل وی			

قوله تعالیٰ:- وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ

دنیافانی اواخرت باقی پاتې کیدونکې دې:- الله ﷻ ددنیادسپک والی په کښې دخوشحالودکم والی او ذلت او ددې ناپائیداریٔ اوبې ثباتیٔ بدی بیان فرمائی،اوددې په مقابله کښې داخرت دنعمتونو پائیداری او همیش والې،عظمت اودوام ذکرفرمائی،ارشاددې ﴿مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ؕ﴾ستاسو سره چه څه دی

---

[1] صحیح مسلم کتاب المساجد باب المساجدو مواضع الصلاة: ۵۲۹.

فنا کیدونکی دی،اوداللہ تعالی سره ټول څیزونه دبقاوالہ دی،داللہ ﷻ سره چه څه دی هغه د نیکو خلقو دپاره ډیربهتراوعمده دی،اوداخرت په مقابله کښې دنیاخوهیڅ نه ده.لیکن افسوس چه خلق دنیا پسې لګیدلې دی،اوداخرت نه غافل دی.کوم چه ډیربهتراوډیرباقی پاتې کیدو والہ دی.رسول اللہ ﷺ فرمائی ،دنیاداخرت په مقابله کښې داسې ده چه په تاسوکښې یوکس په سمندرکښې ګوته غوپه کړی اوراواوباسی بیااوګوری چه دهغۀ ګوتې پورې څومره اوبه ننبتې وی ،هغۀ دسمندرپه مقابله کښې څومره دی(۱)افسوس چه په دې کښې هم ډیردخپلې کم عملئ اوبې علمئ په وجه ددنیالیونی دی.خیال اوکړئ یو هغه چه تۀ په اللہ تعالی اودهغۀ په نبی ﷺباندې ایمان لرې اویوهغه چه ایمان نې نه راوړی نه وی دنتیجې په اعتبارسره برابرکیدې شی؟دایمان والوسره داللہ ﷻدجنت اودبې شمیره نۀ ختمیدونکی اوغیرفانی نعمتونه وعده ده،اودکافرانوسره دهغۀ ځائې دعذاب ویره ده،اګرکه په دنیا کښې څه مزې اوکړی، روایت دې چه دادحضور ﷺاودابوجهل لعنتی په باره کښې نازل شوې دې. (۲) یوقول داهم دې چه دحضرت حمزه ﷺ،حضرت علی ﷺ اوابوجهل په باره کښې داایت نازل شوې دې. (۳) ظاهره داده چه دا ایت عام دې،څنګه چه داللہ تعالی فرمان دې چه جنتی مومن به دخپل جنت ددرجونه جهنمی کافران د جهنم په جیل خانه اووینی نواوبه وائی ﴿وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ﴾ کۀ په مادخپل رب انعام نه وې نو زۀ به هم په دې عذابونوکښې ګیرشوې وې.په بل ایت کښې دی، ﴿وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ﴾ د پیریانو یقین دې چه حاضریدونکی والوکښې دی.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ	فَيَقُولُ	أَيْنَ	شُرَكَائِيَ	الَّذِينَ
اویادکړئ هغه ورځ چې هغه به آواز اوکړی هغوئ ته|اواوبه وائی ورته|کوم ځائې دی|شریکان زما| هغه				
او په هغه ورځ به ورته اللہ ﷻ آواز اوکړی	نو تپوس به اوکړی چې زما هغه شریکان څه شول			
كُنتُمْ	تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾	قَالَ	الَّذِينَ	حَقَّ	عَلَيْهِمُ
چې وئ تاسو|چې ګمان به موپر کولو	اوبه وائی	هغه کسان	چې صحیح ثابتیږی|په هغوئ باندې		
چې تاسو به شریک ګنړل	.....نوهغه خلق به اووائی چې داللہ ﷻ د عذاب فیصله پرې				
الْقَوْلُ	رَبَّنَا	هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ	أَغْوَيْنَا	أَغْوَيْنَاهُمْ
داقول	اے ربه زمونږه	دادی هغه کسان	چې ګمراهه کړی ووزمونږه	ګمراهه کړل مونږ دوئ
ثابته شوې وی		ائې زمونږه ربه ! دا هغه خلق دی کوم چې مونږه بې لارې کړی وو	ځنګه چې مونږ	
كَمَا	غَوَيْنَا	تَبَرَّأْنَا	إِلَيْكَ	مَا كَانُوا
لکه څنګه چې	ګمراهه شوی ووئ مونږه	ذمه وار نۀ یو مونږ ددوئ	تاته	نۀ ووئ دوئ
په خپله بې لارې وو دغه شان مونږ دوئ بې لارې کړل	اوس مونږ ستاپه وړاندې ددوئ نه بیزاره یو			

(۱) صحیح مسلم کتاب الجنة باب فنا الدنیا وبیان الحشر یوم القیامة ۲۸۵۸،ترمذی:۲۳۲۳،ابن ماجه: ۴۱۰۸،ابن حبان: ۴۳۳،احمد:۴/۲۲۸.

(۲) الطبری: ۱۹/۶۰۴.

(۳) ایضًا: ۱۹/۴۰۵.

اِيَّانَا	يَعْبُدُوْنَ ﴿٦٣﴾	وَقِيْلَ	ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ
چې مونږ لره به نې عبادت کوؤ	اواوبه ونيلې شي دوئ ته	چې رااوبلئ	شريکان خپل
دوئ خوبه زمونږ عبادت نه کولو	.....او(مشرکانو) ته به اووئيلې شي چې خپل شريکان راوبلئ		
فَدَعَوْهُمْ	فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا	لَهُمْ	وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ
نودوئ به رااوبلئ هغوئ	پس وربه نۀ کړي جواب هغوئ	دوئ لره	اواوبۀ وينې دوئ
نو دوئ به ئې راوبلي خوهغوئ به هيڅ جواب ورنکړي	اودوئ به (په خپلو سترګو) عذاب اووينې		
لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا	يَهْتَدُوْنَ ﴿٦٤﴾	وَيَوْمَ	يُنَادِيْهِمْ
کاش چې دوئ وې	نيغه لار اختياروونکي	او ياده کړي هغه ورځ	چې آواز به اوکړي الله دوئ ته
(دا به اووائي) کاش چې دوئ په سمه لار روان راغلي وې	اوپه کومه ورځ چې الله ﷻ دوئ راوغواړي		
فَيَقُوْلُ	مَاذَآ اَجَبْتُمُ	الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٦٥﴾	فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ
پس اوبه وائي	څه جواب ورکړې ووئ تاسو	رسولانو ته	پس پټ به شي پرې هغوئ باندې
نو تپوس به ترې اوکړي	چې تاسو پيغمبرانو ته څه جواب ورکړې وو؟		نو په دغه ورځ به د هغوئ
الْاَنْۢبَآءُ	يَوْمَئِذٍ	فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٦٦﴾	
خبرونه	په دغه ورځ(يعنې جواب به ورنۀ کړي)	پس هغوئ به په خپلو کښې تپوس نشي کولې	ديو بل نه
نه ټول جوابونه هيرشي	.....او پخپل مينځ کښې به ديو بل نه تپوس هم نشي کولې		
فَاَمَّا	مَنْ تَابَ	وَاٰمَنَ	وَعَمِلَ
پس هر چې دې	هغه څوک	چې توبه ئې اوويسته (نن)	او ايمان ئې راوړو
خو چا چې توبه اوويسته	..... او ايمان ئې راوړو		او نيک عملونه
صَالِحًا	فَعَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ	مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿٦٧﴾	
نيك	پس کيدې شي	چې وی هغه	دکاميابو خلقو نه
کوی	.....نو کيدې شي چې دغه خلق کاميابه شي		

قوله تعالى:- وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ

مشرک اودهغه معبودالله ﷻ په وړاندې:- مشرکان به دقيامت په ورځ رااوبللې شي اوالله ﷻ به ئې خپلې مخې ته اودروي اوورته به اوفرمائي چه په دنياکښې تاچه زمابه مقابله کښې دچاعبادت کولوکوم بتان او کانړي چه دې منل هغوی چرته دی؟هغوی ته اوازاوکړه اواوګوره چه هغوی ستاڅه مدد کوی؟ياهغوی په خپله دخپل خان څه مدد کولې شی؟دابه ورته صرف درتلوپه طورسره وی،څنګه چه فرمان دې ﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ الايه يعنې مونږ تاسوداسې يواځې يواځې اويوپه يو راوستئ څنګه چه مونږ تاسو په اول ځل پيداکړې وئ،اوڅه چه مونږ تاسوته درکړې درسولې ووهغۀ هر څه تاسودخان نه روستو پريښودل،مونږ خونن تاسوسره څه سفارشی هم نه وينوکوم چه تاسودالله تعالى سره شريک ګرځولې وو.خوپه تاسواوهغوی کښې څه مينه پاتې نه شوه،اوستاسوګمان کړې شوې شريکان ټول

Scanned with Ca

ستاسو نه نن ورځ شوې دی.په چاچه دعذاب خبره ثابته شوې ده،یعنی شیطانان،اوسرکش خلق او د کفرمشران اوشرك طرف ته رابلونکی داتول لوی لوی خلق به په هغه ورځ اووائی چه دې الله مونږ دوی ګمراه کړې وو،اودوی زمونږ کفریه خبرې واوریدلې اووې منلې څنګه چه مونږ به لارې شوې وو، دوی هم مونږ بې لارې کړل،مونږ ددوی دعبادت نه ستاپه وړاندې دبیزارئ اظهارکوو،څنګه چه په بل ایت کښې دی،﴿وَاتَّخَذُوا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً﴾ الایه هغوی دالله تعالی نه علاوه نورمعبودان جوړکړل چه هغوی ددوی دپاره دعزت باعث جوړشی.خوداسې کیدونکی نه دی هغوی خوبه ددوی دعبادت نه هم انکار اوکړی، او الټابه ددوی دشمنان جوړشی.په بل ایت کښې دی،﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾الایه ددې نه زیات ګمراه به څوك وی؟چه دالله تعالی نه علاوه نوروته اوازونه کوی،چه ترقیامته پورې به دوی ته او ازور نکړې شی،اوهغوی ددوی د اوازونونه هم غافله دی.اودقیامت په ورځ دحشرپه موقعه باندې به ددوی دشمنانان جوړشی.اوددې خبرې نه به صفاانکاراوکړی چه هغوی ددوی عبادت کړې وو.ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته فرمائیلې وو چه تاسودکوموبتانوعبادت شروع کړې دې دوی سره صرف ددنیادوستی ده، دقیامت په ورځ به تاسو ټول دیوبل نه منکرشئ،اوپه یوبل به لعنت وایئ الخ.په بل ایت کښې دی﴿اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا﴾ الایه یعنی کوم چه تابعداری کونکی وو،هغوی دهغونه چاچه تابعداری کوله بری اوبیزاره به شی.عذاب مخامخ لیدوسره به ټول تعلقات ختم شی الخ.دوی ته به اوفرمائیلې شی چه تاسو په دنیاکښې دچاعبادت کولونن هغوی ته اوازولې نه ورکوئ؟اوس به دوی ورته چغې اووهی لیکن څه جواب به بیانه مومی.اودهغوی به یقین اوشی چه دوی به داورعذاب ته ځی.هغه وخت به دوی ارمان کوی چه کاش دوی په نیغه لاره وې،څنګه چه ارشاددې،﴿وَيَوْمَ يَقُوْلُ نَادُوْا شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ﴾ الایه،په کومه ورځ چه اوفرمائی چه زماهغه شریکانوته اوازاوکړه کوم چه تاډیراوچت ګڼړل،دوی به ورته اوازونه اوکړی،خوهغوی به هډوجواب ورنکړی.اومونږ به ددوی اودهغوی په ترمینځ پرده جوړه کړو،مجرمان خلق به دوزخ اووینی اوباوربه اوکړی،چه هغوی دې ته پریوتونکی دی.خودهغې نه دبچ کیدوځه لاره به بیانه مومی.هم ددې قیامت په ورځ به دوی ټولوته واورولې شی اویوسوال به ترې اوکړې شی.چه تاسوپیغمبرانوته څه جواب ورکړو؟اوترکومې پورې مودهغوی ملګرتیا اوکړه؟اول به د توحیدپه باره کښې تپوسونه اوکړې شی.اوس درسالت په باره سوال اوجواب کیږی.هم دغه شان په قبرکښې هم سوال کیږی چه ستارب څوك دې؟مومن جواب ورکوی،چه زمامعبودصرف الله تعالی دې. او زمارسول محمد ﷺ دې.چه دالله تعالی بنده اودهغهٔ رسول دې.خودکافرنه به څه جواب جوړنه شی.هغه په ویره اوپریشانئ کښې وائی چاماته ددې پته نشته.ړوندواوکونکړشی څنګه چه ئې اوفرمائیل﴿وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰى فَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى﴾کوم کس چه دلته ړوندددې هغه به هلته هم ړونداولاړه به ترې ورکه شوې وی.ټول دلیلونه به دهغهٔ دسترګونه اخواشی،چه رشتې،دوستئ نسب دهیڅ قدربه پاتې نه شی.دنسب نامو څه تپوس به نه وی.اوپه دنیاکښې توبه ویستونکی اودایمان اونیکئ سره ژوندتیرونکی به بیشکه فلاح اوخلاصل کړی.دلته(عسی) دیقین په معنی کښې ده یعنی مومن به ضرورکامیابیږی.

وَرَبُّكَ	يَخْلُقُ					
او رب ستا	پیدا کوی					
.....اوستارب چې څه غواړی						
مَا	يَشَآءُ	وَيَخْتَارُ ؕ	مَا كَانَ	لَهُمُ	الْخِيَرَةُ ؕ	
هغه څه	چې غواړی ئې هغه	او غوره کوی ئې هغه	نه دی	دوئ لره	هیڅ اختیار(په دې کښې)	
هغه پیدا کوی	.....اوهم هغه غوره کوی(چې څوك اوغواړی)			ددوئ هیڅ اختیار نشته		

Scanned with Ca

سُبْحٰنَ اللّٰهِ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۸﴾	وَرَبُّكَ يَعْلَمُ
پاکی دالله ده	او ډیر اوچت دي	دهغې نه	چې دوئ نې ورسره شریکوی	او رب ستا پوهیږی
الله ﷻ پاک دي	او ددوئ د شریکانو نه ډیر اوچت دي	اوستا رب ته هغه ټول رازونه معلوم دی		
مَا	تُكِنُّ	صُدُوْرُهُمْ	وَمَا	يُعْلِنُوْنَ ﴿۶۹﴾
په هغه څه	چې پټوی نې	سینې دهغوئ	اوپه هغه څه	چې ښکاره کوی نې هغوئ
کوم چې د دوئ زړونه پټوی	او کوم چې دوئ ښکاره کوی	.....		
اوهم دغه الله دي	او الله ﷻ هغه ذات دي			
لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ ؕ	لَهُ الْحَمْدُ	فِي الْاُوْلٰى	وَالْاٰخِرَةِ ۫
چې نشته لائق دعبادت	مګر	هغه دي	هغه لره ثنا ده	په دنیا کښې
چې د هغه نه سوا	بل څوک معبود نشته	په دنیا او آخرت دواړو کښې دهغه تعریف دي		
وَلَهُ الْحُكْمُ	وَاِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ ﴿۷۰﴾		
او هغه لره حکم دي	او هغه ته به	تاسو واپس کیږئ		
او صرف د هغه حکم چلیږی	اوتاسو به هم هغه ته واپس کیږئ			

قوله تعالی:- وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ؕ

مختارکل دالله ﷻ ذات دي:- دټول مخلوق خالق اودټولو اختیاراتووالله ﷻ دي.نه پدي کښې د هغۀ سره څوک دجهګړې کولووالله نه دهغۀ شریک اوملګرې شته،څه چه اوغواړی پیداکوی څوک چه اوغواړی خپل خاص بنده نې جوړکړی.څه چه غواړی کیږی څه چه نه غواړی هیڅ کله کیدي نه شی.ټول کارونه اوټول خیراوشردهغۀ په لاس کښې دي.دهرچادهغۀ طرف ته واپس تلل دی دهیڅاڅه اختیار نشته.هم دغه لفظ په دي ایت کښې په دي معنی ﴿اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ﴾ کښې دي.په دواړو ځایونو کښې ما نافیه دي.اګرچه ابن جریرداوئیلي دی چه ماپه معنی د(الذي) دی.یعنی الله تعالی خوښوی هغه په چا کښې چه ښیګړه وی،اوهم دغه معنی اخستلوسره معتزلیانوپه مراعات صالحین باندي استدلال اوکړو،خوصحیح خبره داده چه دلته ما دنفی په معنی کښې ده،څنګه چه دابن عباس ﷺ او وغیره نه روایت دي چه دایت هم په دي بیان باندي دي چه دمخلوق په پیدائش کښې دتقدیرمقررول اختیار لرلو والا رب تعالی یواځي دي.اودنظیرنه پاک دي.ددي وجې نه دایت په خاتمه باندي اوفرمائیل چه کوم بتان وغیره لره دوی درب شریک ګرځوی چه نه خوڅه ځیزجوړکړی اونه اختیاراولری الله تعالی ددي ټولونه پاک اوډیرلرې دي.

قوله تعالی:- وَرَبُّكَ يَعْلَمُ

بیائي اوفرمائیل چه په سینوکښې اوزړونوکښې پټوخبروباندي هم الله تعالی پوهیږی.اوهغه ټولې هم په هغۀ باندي داسې ظاهري دی څنګه چه ښکاره اوظاهري خبرې،په پټه خبرې اوکړي اوکه په ښکاره اووائي هغه په ټولوخبرداره دي.په شپه کښې اوپه ورځ کښې چه څه کیږی دهغۀ پټ نه دی.په الوهیت کښې هم هغه یواځي دي اودهغۀ نه سوابل څوک داسې نشته دچاطرف ته چه مخلوق خپل حاجتونه یوسی.اوچاته چه مخلوق عاجزی اوکړی.څوک چه دمخلوق حاجتونه پوره کونکي اومددکونکي وی. څوک چه دعبادت لائق وی.خالق مختار رب مالك هم هغه دي.هغه چه څه کوی ټول دستائینې قابل دی.دهغۀ عدل اوحکمت هم دهغۀ سره دي.دهغۀ حکمونه څوک ردکولې نه شی.هغۀ ارادې څوک روستو

Scanned with Ca

کولې نه شی.هغۀ به ټولوته دهغوی داعمالوبدله ورکوی دهغۀ نه ستاسوهیڅ کارونه پټ نه دی. نیکانو ته جزااوبدانوته سزابه په هغه ورځ ورکوی اوپه خپل مخلوق کښې به فیصله اوکړی.

قُلْ	اَرَءَيْتُمْ						
	اووایه	آیا وینئ تاسو(غور مو کړې دی)					
	(ائې محبوبه ﷺ) ته دا اووایه						
اِنْ جَعَلَ	اللّٰهُ	عَلَيْكُمُ	الَّيْلَ	سَرْمَدًا	اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ		
که چرې جوړه کړی	الله	په تاسو باندې	شپه	همیشه	دورځې دقیامته پورې		
دا راته اوښائې که الله ﷻ په تاسو باندې همیشه ترقیامته پورې توره شپه راولی							
مَنْ	اِلٰهٌ	غَيْرُ اللّٰهِ	يَاْتِيْكُمْ	بِضِيَآءٍ ؕ	اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ۝		
نو څوک دی	بل خدائې	بغیر دالله نه	چې راوړی تاسو ته	رنړا	آیا پس نۀ اورئ تاسو		
نو دالله ﷻ نه سوا بل څوک داسې معبود شته چې تاسو باندې رنړا راولی	نوآیا تاسو نه اورئ						
قُلْ	اَرَءَيْتُمْ	اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ	عَلَيْكُمُ	النَّهَارَ	سَرْمَدًا		
اووایه	آیا سوچ کړې دی تاسو	که جوړه کړی الله	په تاسو باندې	ورځ	همیشه		
(محبوبه دا هم) ورته اووایه چې دا راته اوښائې که الله ﷻ په تاسو باندې همیشه تر قیامته پورې							
اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ	مَنْ اِلٰهٌ	غَيْرُ اللّٰهِ	يَاْتِيْكُمْ	بِلَيْلٍ			
دورځې دقیامته پورې	څوک دی بل خدائې	غیر دالله نه	چې راوړی (راولی) تاسو ته	شپه			
ورځ راولی	نو دالله ﷻ نه سوا بل څوک معبود شته چې په تاسو شپه راولی	چې					
تَسْكُنُوْنَ	فِيْهِ ؕ	اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝	وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ	جَعَلَ			
چې ارام اوکړئ تاسو	ایا پس نۀ وینی تاسو	او درحمت خپل نه	جوړ کړل هغه				
تاسو په کښې ارام اوکړئ	نو آیا تاسو نه وینئ ؟	.....اوهغه په خپل رحمت سره					
لَكُمُ	الَّيْلَ وَالنَّهَارَ	لِتَسْكُنُوْا	فِيْهِ				
ستاسو دپاره	شپه او ورځ	دپاره ددې چې تاسو ارام حاصل کړئ	په هغې کښې				
ستاسو دپاره شپه او ورځ دواړه پیدا کړی دی	چې تاسو د شپې ارام اوکړئ	او (دورځې)					
وَلِتَبْتَغُوْا	مِنْ فَضْلِهٖ	وَلَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ ۝				
او دپاره ددې چې تاسو اولټوئ	دفضل دهغه نه	او دپاره ددې چې تاسو	شکر اوباسئ				
خان دپاره د هغه مقرره کړې روزی اولټوئی	.....او چې د هغه (د نعمتونو) شکر اوباسئ						

قوله تعالی:- قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ

دالله ﷻ دقدرت ناقابل تردید دلائل:- دالله ﷻ احسان ته اوګورئ چه ستاسود کوششونواوتدبیرنه بغیرشپه اوورځ برابرمخکښې روستوراروان دی.که همیشه شپه وې نوتاسوبه عاجزه شئ ستاسوکارونه به اودریږی په ژوندبه تاسوتنګ شئ تاسوبه سترې شئ تنګ به شئ څوک به بیانه مومئ چه ستاسو دپاره ورځ رااوباسی.چه دهغې په رنړاکښې تګ راتګ اوکړئ اوخپل کارروزګارپکښې اوکړئ. افسوس چه اورئ خوولې هیرې نې کړئ.هم دغه شان که هغۀ په تاسودهمیشه دپاره ورځ راولی نو ستاسوژوندونه

Scanned with Ca

به تراخۍ شی.دبدن نظام به موورانو ویجارشی.سترې به شئ،تنګ به شئ،هیڅوک نشته دچاسره چه دا قدرت وی چه هغه شپه راوستې شی.په کومه کښې چه تاسوارام اوکړې شئ، خو تاسو سترګئ لرې ولې دالله تعالی نخښې اومهربانوته نه ګورئ،داهم دهغۀ احسان دې چه هغۀ شپه اوورځ دواړه پیداکړې دی. چه دشپې تاسوارام حاصل کړئ اودورځې تاسوکارروزګاراوتجارت اوزراعت شغل اوکړئ،تاسوته پکاردی چه تاسودهغه حقیقی مالك اوقادرمطلق شکراداکړئ دشپې اوورځې عبادت کوئ دشپې قصورتلافی په ورځ کښې اودورځې دقصورتلافی په شپه کښې کوئ اودمختلف ځیزونه دقدرت نمونې دی اوددې دپاره دی چه تاسونصیحت اوعبرت حاصل کړئ اود رب شکراوکړئ

وَيَوْمَ	يُنَادِيهِمْ	فَيَقُولُ	أَيْنَ	شُرَكَاءِيَ
او یاده ساتئ هغه ورځ	چې آواز به اوکړی الله دوئ ته	پس اوبه وائی	کوم خائې دی	شریکان زما
او په کومه ورځ چې به ورته الله ﷻ اعلان اوکړی	.....نو اوبه وائی چې اوس زما هغه			

الَّذِينَ	كُنتُمْ	تَزْعُمُونَ ۝	وَنَزَعْنَا	مِن كُلِّ أُمَّةٍ
هغه	|چې وئ تاسو	چې تاسو به پرې ګمان کولو	اوراوبه باسو مونږه	دهر امت نه
شریکان څه شول |چې تاسو به پرې (د خدایانو) ګمان کولو		اومونږ به د هر امت نه یو یو		

شَهِيدًا	فَقُلْنَا	هَاتُوا	بُرْهَانَكُمْ	فَعَلِمُوا
یو ګواه	نو اوبه وایو مونږه	راوړئ	دلیل خپل	نو پوهه به شی هغوئ
ګواه بهرراوباسو	نوبیابه ورته اووایو چې اوس خپل خپل دلیل پیش کړئ		نوهغوئ به پوهه شی	

أَنَّ الْحَقَّ	لِلَّهِ	وَضَلَّ	عَنْهُم	مَّا	كَانُوا	يَفْتَرُونَ ۝
چې بیشکه حق	الله لره دی	اوورک به شی	دهغوئ نه	هغه څه	چې ووهغوئ	چې دروغ به ئې جوړول
چې حقه خبره هم هغه وه	چې الله کړې وه	اوکومې دروغ خبرې چې به دوی جوړولې هغه به تړې هیرې شی				

قوله تعالی:- وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ

دقیامت په ورځ به دالله ﷻ شریکان په نظرنه راځی:- مشرکان به په دویم ځل اورتلې شی اواوبه فرمانیلې شی چه په دنیاکښې چه تاسوڅوك زماسره شریکان ګرځول هغوی چرته دی؟دهرامت نه یو ګواه یعنی د هغه امت پیغمبربه خوښ کړې شی(۱)اومشرکانوته به اووئیلې شی چه دخپل شریك څه دلیل پیش کړئ. دغه وخت کښې به دوی یقین اوکړی چه واقعی دعبادتونولائق دالله تعالی نه سوابل څوك نه دی.هیڅ جواب به ورنکړې شی.حیران به پاتې شی اوتول دروغ به ترې هیرشی.

إِنَّ قَارُونَ	كَانَ	مِن قَوْمِ مُوسَىٰ	فَبَغَىٰ	عَلَيْهِمْ ۖ
بیشکه قارون	وو	دقوم دموسی نه	پس سرکشئ اوکړه هغه	په هغوئ باندې
بیشکه قارون دموسی ﷺ دقوم سړې وو	خو دخپل قوم په مقابله ئې تکبر اختیار کړو			

وَآتَيْنَاهُ	مِنَ الْكُنُوزِ	مَا	إِنَّ	مَفَاتِحَهُ
او ورکړې وې مونږ هغه ته	دخزانونه	هغه اندازه	چې بیشکه	کنجیانې دهغې
اومونږ ورته دومره ډیرې خزانې ورکړې وې	چې د هغې کنجیانې به د مضبوطو			

(۱) الطبری:۱۹/٦۱٤.

Scanned with Ca

لَتَنُوْٓاُ	بِالْعُصْبَةِ	اُولِي الْقُوَّةِ ۗ	اِذْ قَالَ	لَهٗ قَوْمُهٗ
خامخا درنیدی	په داسې ډله باندې	چې خاوندان دقوت به وؤ	کله چې اووئیل	هغه ته اقوم دهغه
کسانو په پوره ډله باندې درنې وی	.....	څه وخت چې د هغه قوم هغه ته اووئیل چې		
لَا تَفْرَحْ	اِنَّ اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	الْفَرِحِيْنَ ۝	وَابْتَغِ
خوشحالیږه مهٔ (غرور مهٔ کوه)	بیشکه الله	نهٔ خوښوی	مغروره خلق	او تلاش کړه
غرور مه کوه	.....یقینا مغروره کسان الله ﷻ نه خوښوی		او الله ﷻ چې تاته	
فِيْمَآ	اٰتٰىكَ اللّٰهُ	الدَّارَ الْاٰخِرَةَ	وَلَا تَنْسَ	نَصِيْبَكَ
په هغه مال کښې	چې درکړې دی تاله الله	کور دآخرت	او مهٔ هیروه	حصه خپله
کوم مالونه درکړی دی	په هغې کښې د آخرت دپاره څه عمل اوکړه	اوددنیا په مال کښې خپله حصه مه هیروه		
مِنَ الدُّنْيَا	وَاَحْسِنْ	كَمَآ	اَحْسَنَ اللّٰهُ	اِلَيْكَ
ددنیا نه	او احسان کوه	لکه څنګه چې	احسان کړې دی الله	ستا سره
.....او لکه چې الله ﷻ تاسره احسان کړې دی دغه شان ته هم دخلقو سره احسان کوه				
الْفَسَادَ	فِي الْاَرْضِ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	الْمُفْسِدِيْنَ ۝
فساد	په زمکه کښې	بیشکه الله	نهٔ خوښوی	فسادکونکی
اوپه زمکه کښې فساد مه خوروه	بیشکه الله تعالی فسادیان نه خوښوی			

قوله تعالی:- اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۪

قارون څوک او څه وو:- روایت دې چه قارون دموسی ﷺ دترهٔ خوې وو(۱) دهغهٔ نسب دادې، قارون بن یصهربن قاهیث، اودموسی ﷺ نسب دادې موسی ﷺ بن عمران بن قاهیث(۲) دابن اسحاق m تحقیق دادې چه دې دحضرت موسی ﷺ ترهٔ وو، خواکثرعالمانوئې دترهٔ خوې وائی. دې ډیر خوش اوازه وو، او تورات به ئې په ډیرخوش اوازئ سره وئیلو، ددې وجې نه به ورته خلقو منور وئیلو، خوچه څنګه سامری د منافقت کارکړې ووداالله تعالی دشمن هم منافق شوې وو. چونکه ډیرزیات مالدارووددې وجې نه پکښې غروروراغلې وو، اوالله تعالی ئې هیرکړې وو. په قوم کښې چه عام طورسره د کوم لباس دستور وو دهغهٔ نه ئې یوه لیشت لاندې جامې جوړې کړې وې. چه دهغې سره ددهٔ غرور اومالداری ظاهره شی. ددهٔ سره دومره مال ووچه ددهٔ دخزانوپه چابیانواوچتولوباندې دطاقتورسرویوه ډله مقرروه، ددهٔ ډیر زیاتې خزانې وې. دهرخزانې چابی ئې جداوه، چه یوه لیشت به وه. کله چه به دا چابیانوددهٔ سره په قچرو باندې بارکړې شوې نوددې دپاره شپیتهٔ قچرې مقرروی. والله اعلم.

قوله تعالی:- قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ

د قوم نیکانو ته نصیحت:- دقوم مشرانو اونیکانو خلقواوعالمانوچه کله ددهٔ سرکشی اوتکبردحدنه په زیاتیدو باندې اولیدونودهٔ ته ئې نصیحت اوکړوچه دومره نیغږه مهٔ اودومره غرورمه کوه اودالله تعالی ناشکره مه جوړیږه کنی دالله تعالی دمحبت نه به لرې شې. دقوم وعظ کونکوورته اووئیل چه دادالله ﷻ

---

(۱) الطبری: ۶۱۶/۱۹.
(۲) ایضًا: ۶۱۵/۱۹.

Scanned with Ca

نعمتونه تاسره دی دادالله تعالی درضامندئ په کارونوکښې خرچ کړه چه په اخرت کښې هم ستاحصه پیداشی مونږ درته دانه وائیوچه ته ددنیاعیش اوعشرت مه کوه بلکه ښه خوره څکه ښه اوغونده،ښه پسره وه،دجائزو نعمتونو فائده واخله ،نکاح اوکړه اوراحت اوچت کړه،حلال څیزونه استعمال کړه، خو چه چرته دخپل خان خیال ساتې نوهلته دمسکینانوهم خیال ساته،چرته چه خپل نفس نه هیروې هلته د الله ﷻحق هم مه هیروه چه ستادنفس هم په تاحق دې ستادمیلماهم په تاحق دې ستادبچوهم په تاحق دې اومسکین غریب هم تاسره په مال کښې حصه داردې.دهرحقدارحق اداکوه او څنګه چه الله تعالی تا سره سلوك کړې دې نوته دنوروسره سلوك اواحسان کوه خپله مفسدانه رویه بدله کړه دالله تعالی مخلوق ته تکلیف رسولونه منع شه ،الله تعالی فسادیانوسره محبت نه ساتی.

قَالَ اِنَّمَآ	اُوْتِيْتُهٗ	عَلٰى عِلْمٍ	عِنْدِيْ ؕ	اَوَلَمْ يَعْلَمْ
اووئیل هغه بیشکه راکړې شوې دې ماته دا مال	په وجه دهغه علم	چې زما سره دې	ایا اوهغه ته دا علم نۀ ووۀ		
قارون اووئیل چې دا مالونه خوماته زما د علم او(زما دقابلیت) په وجه راکړې شوی دی	ایا هغه په دې پوهه نشو			
اَنَّ اللّٰهَ	قَدْ اَهْلَكَ	مِنْ قَبْلِهٖ	مِنَ الْقُرُوْنِ	مَنْ هُوَ
چې بیشکه الله	هلاك کړی دی	مخکښې دهغه نه	دخلقو نه	هغه څوك	چې هغه
چې الله ﷻ د هغه نه ورانديې داسې ډیر قومونه تباه کړی دی	چې هغوی د هغه (قارون) نه په زور			
اَشَدُّ	مِنْهُ	قُوَّةً	وَّاَكْثَرُ	جَمْعًا ؕ	وَلَا يُسْئَلُ
ډیر سخت ووۀ	دهغه نه	په قوت کښې	او ډیر زیات ووۀ	په ډله کښې	او تپوس به نۀ کیږی	
کښې زیات وو	.....اوډله پله (ملګری) ئې ډیر زیات وو	اود مجرمانو نه به د ګناهونو په				
عَنْ ذُنُوْبِهِمُ	الْمُجْرِمُوْنَ ۝					
په باره دګناهونو دهغوئ کښې	دمجرمانونه					
باره کښې تپوس ته هیڅ حاجت نه وی						

قوله تعالی:- قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ ؕ

دقارون متکبرانه جواب:- دقوم دعالمانونصیحتونه اوریدوسره قارون چه کوم جواب ورکړودهغې ذکر کیږی.چه هغۀ اووئیل تاسوخپل نصیحتونه دخپل خان سره کیږدئ.ماته ښه پته ده چه الله تعالی ماته څه راکړی دی هم دهغې زۀ حقداروم.زۀ یوعقلمنداوهوښیارکس یم.اوددې الله تعالی ته هم پته ده .ددې وجې نه هغۀ دادولت ماته راکړې دې.دبعضې انسانانوداخاصه وی څنګه چه په قران کښې دی چه کله انسان ته څه تکلیف اورسی نوډیرپه عاجزئ سره اوازونه کوی اوکله چه مونږ هغۀ ته څه راحت ورکړو نو وائی﴿قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ﴾یعنی الله ﷻ ته پته وه چه زۀ ددې حقداریم.ددې وجې هغۀ داماته راکړی دی. په بل ایت کښې دی چه کۀ مونږ په هغۀ څه رحمت اوځکواودهغې نه پس ورته څه مصیبت اورسی نو اووائی چه (هذالی)ددې حقدارخوهم زۀ وم.

قوله تعالی:- عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ ؕ

دقارون سره د څه علم ووؤ:- بعضې خلقووئیلې دی چه قارون ته دعلم کیمیاپته وه،خوداقول بالکل کمزورې دې.بلکه دکیمیاعلم فی الواقع شته نۀ،څکه چه یوځیزلره بعینه بدلول دادالله تعالی دقدرت خبره ده.چه په دې څوك بل څوك قادرنه دې.

Scanned with Ca

فرمان الهی دي چه کۀ ټول مخلوق راجمع شي نويو مچ هم پيدا کولې نه شي.په صحيح حديث کښې دی چه دالله ﷻ فرمان دي،دهغۀ نه زيات ظالم څوک دي؟چه کوشش کوی چه زماپشان پيدائش اوکړی.کۀ هغه ربنتونې دي نويوه زره يايوه اوربشه دي جوړه کړی(۱)داحديث دهغوی په باره کښې دي چه تصو يرونه جوړوی اوصرف دظاهری صورت نقل کوی.ددوی دپاره ئې خوداوفرمائيل بياچه څوک دعوی اوکړی چه هغۀ ته کيميامعلومه ده اوديوځيزبدل جوړلې شی ديوذات نه بل ذات جوړوی مثلاً داوسپنې نه سرۀ زروغيره نوصفاظاهره ده چه دابالکل دروغ دی.اوهيڅ کله کيدې نه شی.اوجهالت اوضلالت دي.اوداخبره بله ده که رنګ وغيره بدل کړی اودهوکه بازی اوکړی.خوپه حقيقت کښې داناممکنه ده. داکيمياګرچه دروغژن جاهل اوفاسقان دی دوی صرف دعوې کوی او مخلوق په دهوکه کښې اچوی.خوداخيال ساتئ چه دبعضې اولياءالله دلاسه چه کوم کرامتونه بنکاره کيږی اوکله کله ځيزونه بدل شی دهغۀ مونږ ته انکارنشته.هغه دالله تعالی دطرف په هغوی يوخاص فضل وی اوهغه هم ددوی دوس خبره نه ده.نه ددوی په قبضه کښې وی اونه څه دکاريګرئ اوصنعت او علم دي هغه صرف دالله ﷻدفرمان نتيجه ده.چه الله تعالی دخپلوفرمانبرداره نيکانو بندګانو د لاسه خپل مخلوق ته ښائی. نو روايت دي چه حضرت حيوه بن شريح مصری"رح"نه يوځل يوسائل سوال اوکړو چه هغه سره هيڅ نه وو اودهغۀ حاجتمندئ اوضرورت ته په کتوسره دوی په په زړۀ کښې ډيرزيات خفه شو،اخردوی دزمکې نه يوورځې کانړې راوچت کړواولږ ساعت پورې ئې په خپل لاس کښې اړولو راړلو اودفقيرپه جولئ کښې واچولونوهغۀ دسروزروګيټې جوړشو.معجزې اوکرامات په حديثوکښې او اثارو کښې ډيرپه کثرت سره مروی دی.چه دهغې دلته بيانول به دخبرې اوږديدوباعت جوړ شی. د بعضو ويناده چه قارون ته اسم اعظم معلوم وو.چه دهغې په وئيلوسره دهغۀ دخپل ځان دمالدارئ دعااوکړه.نودومره ډيردولت مند شو.دقارون ددې جواب په ردکښې الله تعالی فرمائی چه داغلطه ده چه زۀ په چامهربانه شم نوهغه دولت مندکړم.نه ددې نه مخکښې ماددۀ نه زيات دولت منداومالداره خلق تباه کړی دی.نوداګنړل چه مالداری زمادمحبت نخښه ده بالکل غلطه ده.څوک چه زماشکرنه اداکوی اوپه کفرباندې قائم وی د هغۀ انجام خراب وی.دګنهګارانودګناهونودزيات والې دوجې نه بيادهغوی نه ګناهونوسوال هم عبث وی.ددۀ خيال ووچه په ماکښې خيردي.ددې وجې نه دادالله تعالی فضل په ماشوې دي.هغۀ ته پته وه چه زۀ ددې مالدارئ قابل يم که الله تعالی زمانه خوشحاله نه وې اوزۀ ئې ښه کس نه ګڼلې نوماته به ئې دانعمت نه وې راکړې.

فَخَرَجَ				عَلٰى قَوْمِهٖ
پس رااووتو هغه				په قوم خپل باندې
نو (يوه ورځ) هغه خپل پوره شان وشوکت سره دخپل قوم په				
فِيْ زِيْنَتِهٖ ؕ	قَالَ الَّذِيْنَ	يُرِيْدُوْنَ		الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا
په زينت (شان وشوکت) خپل کښې	نواووئيل هغه کسانو	چې غوښتو ئې		دا ژوند ددنيا
مخکښې راووتلو	..... نو کومو کسانو چې د دنيا اراده لرله هغوئ اووئيل چې			
يٰلَيْتَ	لَنَا	مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ	قَارُوْنُ ۙ	اِنَّهٗ لَذُوْ
کاش چې وې مونږ لره	په شان دهغې	چې ورکړې شوی دی	قارون ته	بيشکه هغه خاوند
کاش! مونږ سره هم دغسې ځيزونه موجود وې لکه څنګه چې قارون ته ورکړې شوی دی				يقينا دې

(۱) صحيح بخاری كتاب اللباس باب نقض الصور: ۵۹۵۳، صحيح مسلم: ۲۱۱۱ مسندابی يعلی: ۶۰۸۶ احمد:۲/۲۵۹.

حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا الْعِلْمَ	وَيْلَكُمْ	
دحصې لوئ دې	اواوونيل	هغه کسانو	چې ورکړې شوې وو علم	افسوس دې تاسولره	
خو د ډيرې برخې خاوند دې	او کوم کسان	چې دعلم خاوندان وو	اهغوئ اووئيل چې ائې بد نصيبو		
ثَوَابُ اللّٰهِ	خَيْرٌ	لِّمَنْ	اٰمَنَ	وَعَمِلَ صَالِحًا	
ثواب دالله	بهتر دې	دپاره دهغه چا	چې ايمان ئې راوړو	او عمل ئې اوکړو نيک	
د الله ﷻ ثواب د هغه کسانو دپاره ډير زيات غوره دې	کوم چا چې ايمان راوړې اونيک کارونه کوى				
وَلَا يُلَقّٰىهَآ	اِلَّا	الصّٰبِرُوْنَ ﴿٨٠﴾			
اونۀ ورکړې کيږى دا	مګر	صبر کونکوته			
اودا خبره هغه چاته خودلې شى چې صبر کوى					

قوله تعالى:- يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ قَارُوْنُ

دعيش عشرت سامان اوقارون اوددنياد پرستو تمنا: قارون يوه ورځ ډيرې قيمتى جامې واغوستې او ډير په شان اوشوکت سره په ښه سورلئ سورشواوسره دخپلوغلامانوچه مخکښې اوروستوترې وو اوهغوى هم ډيرې بهترينې جامې اغوستې وې دې په ډيررعب داب کښې اوغرورکښې اووتو،ددۀ داشان او شوکت اوټاټ باټ اودازينت اوښائست چه ددنياوالواوليدونودهغوى په خوله کښې اوبه راغلې،اووې وئيل چه ارمان مونږ سره هم ددۀ هومره مال وې دې خوډيرخوش نصيبه اوقسمت واله دې.

قوله تعالى:- وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

دنياپرستو ته د عالمانو نصيحت:- عالمانوچه دهغوى داخبرې واورېدې نوهغوى ئې ددې خيال نه منع کول اوغوښتل اوهغوى ئې پوهه کړل چه اوګورئ الله ﷻ چه څه دمومن اونيکوبندګانودپاره دخپل څان سره تيارکړى دى هغۀ ددې نه په کروړچنده ښه اوبهترين دى.تاسولره هغه درجات حاصلولودپاره دا دوۀ ورځوژوندپه صبرسره تيرول پکاردى.جنت دصابرانوحصه ده.مطلب داهم دې چه داقسمه پاکې کلمې دصبرکونکودژبې نه اوځى.چه ددنيادمحبت نه لرې اوداخرت په محبت کښې غمژن وى.په دې صورت کښې ممکنه ده چه داخبرې دواعظ کونکونه وى بلکه په دې خبروکښې اوددې تعريف په تيره شوې جمله کښې دالله تعالى دطرف نه خبروى.

		فَخَسَفْنَا			بِهٖ
					پس ډوب کړه (ننه ايستلو) مونږه | په دۀ باندې
					.....نومونږ قارون اودهغه مانړئ (دواړه)
وَبِدَارِهِ	الْاَرْضَ	فَمَا كَانَ	لَهٗ	مِنْ فِئَةٍ	يَّنْصُرُوْنَهٗ
اوپه کور ددۀ باندې	په زمکه کښې	پس نۀ وه	اهغه لره	هيڅ يوه ډله	چې امداد ئې کړې وې دهغه
په زمکه کښې ورښخ کړل	نوبيا داسې يو ټولې نه وو چې د الله ﷻ په مقابله کښې ئې د هغۀ مدد				
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	وَمَا كَانَ	مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿٨١﴾		وَاَصْبَحَ	الَّذِيْنَ
په مقابله دالله کښې	اونۀ شو هغه	په خپله دځان دمدد کونکونه		اوصباکړو(شوصباله)	اهغه کسان
کړې وې	اونه هغه په خپله خپل څان بچ کړې شو	.....		اوصبا ته هغه خلقو اووئيل چې پرون	

Scanned with Ca

تَمَنَّوْا	مَكَانَهٗ	بِالْاَمْسِ	يَقُوْلُوْنَ	وَيْكَاَنَّ
چې ارزوني کوله	دمر تبې دهغه	په پرون	هغوئ وانې (نن)	افسوس دې اوس پوهه شو
دهغه په شان جوړيدلو ارماني وو	رښتيا دی چې الله ﷻ په خپلو بندګانو کښې			
اَللّٰهَ يَبْسُطُ	الرِّزْقَ	لِمَنْ	يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ
چې الله فراښه کوی	رزق	دپاره دهغه چا	چې خوښه شی دهغه	دبندګانو خپلو نه
چې د چا په باره کښې اوغواړی نو فراخه رزق ورته ورکوی	او (چا ته چې اوغواړی)			
وَيَقْدِرُ ۚ	لَوْلَآ اَنْ	مَّنَّ	اللّٰهُ	عَلَيْنَا
او په اندازه کوی رزق	که چرې نۀ وې دا	چې احسان اوکړو	الله	په مونږ باندې
نو کموی	.....که چرې په مونږ باندې دالله ﷻ احسان نه وې	نو مونږ به ئې		
لَخَسَفَ بِنَا ؕ	وَيْكَاَنَّهٗ		لَا يُفْلِحُ	
نو هغه به مونږ ورښخ کړی وو	افسوس دې اوس پوهه شو	چې فلاح (خلاصی) نۀ مومی		
هم په زمکه ښخ کړی وو	.....رښتيا دی چې کافران نشی			
الْكٰفِرُوْنَ ۝				
کافران				
کامیابیدې				

قوله تعالی:- فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ الْاَرْضَ ۠

د تکبر همدغه سزاده:- پورته دقارون دسرکشئ اوبې ایمانئ ذکراوشو،دلته دهغۀ انجام بیانیږی.په یو حدیث کښې دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل،یوکس خپل ځان پسې ځادررابنکواوپه فخرسره روان ووچه هغه په زمکه کښې خښ کړې شو،چه دقیامته پورې به هم هغسې روان وی خښیږی(۱)داحمدپه روایت کښې دی چه په دوځادرونوکښې په فخراوغرورسره راووتوچه الله تعالی زمکې ته حکم اوکړوچه دې الواق تیرکړه.

یوه عجیبه واقعه:- په کتاب العجائب کښې دی نوفل بن ماحق وائی چه دنجران په جومات کښې ما یو خوان اولیدوچه دډکې سینې واله،دخوانئ په نشه کښې مست،تندرست بدن واله،دډیربنکلی رنګ او صورت واله،چه نظربه پرې پریوتونوهم دهغۀ حسن اوجمال ته به تماشه شوې.نوهغۀ راته اووئیل چه تۀ څه ته ګورې؟ماورته اووئیل چه ستادحسن اوجمال ننداره کوم.اوډیرحیرانیږم،هغۀ راته جواب راکړوچه تۀ څۀ په خپله الله تعالی هم حیران دی،نوفل وائی چه دې کلمې وئیلوسره هغه په کمیدوشواودهغۀ رنګ اوبنانست په الوتوشو،اوقدئ په کمیدوشو،تردې پورې چه یوه لیشت پاتې شو،چه خپل یونزدې رشته دارپه لوستونې کښې واچولواویویږو.

دقارون دهلاکت سبب:- داهم ذکردی چه دقارون هلاکت دحضرت موسی ﷺ په بد دعاسره شوې وو.ددې په سبب کښې ډیرزیات اختلاف دې.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب اللباس باب من الجرثوبه من الخیلاء: ۵۷۹۰. (بخاری)

Scanned with Ca

اول سبب:یوسبب خودابیانیږی چه قارون یوې بدکارې ښځې ته ډیرزیات مال دولت ورکړواوهغۀ ئې په دې راضی کړه چه عین په هغه وخت کښې کله چه حضرت موسیؑدبنی اسرائیلوپه مینځ کښې ولاړ وی اوخطبه ورکوی نوتۀ ورشه اوورته اووائیه چه تۀ هم هغه ئې چه ماسره دې داسې داسې کړی وو. ښځې هم هغسې اوکړل،موسی ؑ اورپیدو،اوهم هغۀ وخت ئې دمونځ نیت اوترلو،اودوه رکعته مونځ ئې اوکړواودهغې ښځې طرف ته متوجې شواووې فرمائیل چه ستادې په الله تعالی باندې قسم وی چا چه په اوبوکښې لاره راکړه،اوستاقوم ته ئې دفرعون دظلمونونه خلاصې ورکړواونورهم ډیراحسانات ئې اوکړل،نوچه څه ربښتونې خبره وی هغه بیان کړه.دائې چه واوریدل نودښځې رنګ بدل شواوصحیح واقعه دخلقوپه وړاندې بیان کړه،اوالله تعالی ته ئې استغفاراوکړو،اوپه ربښتونې زړۀ سره ئې توبه ویسته.موسیؑبیاپه سجده پریوتو اودقارون دپاره ئې سزااوغوښته،دالله تعالی دطرف نه وحی راغله چه مازمکه ستاتابع کړې ده،دوی د سجدې نه سرراوچت کړو،اوزمکې ته حکم ورکړوچه تۀ دې اودد؛ مانړې خپلې خیټې ته دننه کړه. زمکې هم دغسې اوکړل،

دویم سبب :-دویم سبب دابیانیږی چه کله دقارون سورلئ په داسې شان اوشوکت سره راووته چه په سپین قچرباندې په قیمتی جاموکښې سوروو.ددۀ غلامان هم په ریښمینوجاموکښې وو،اوحضرت موسیؑتقریرکولو،دبنی اسرائیل ټولګې وو،کله چه دې هغه ځائې ته ورغې نودټولونظرپه ددۀ اودد؛ په شان شوکت پریوتو.حضرت موسیؑچه کله دې اولیدونوټپوس ئې تړې اوکړوچه څنګه راوتې نې؟ هغۀ ورته اووئیل چه خبره داده چه یوه خبره الله ﷻ تاته درکړې ده، اویوفضیلت ئې ماته راکړې دې.که تاسره نبوت دې نوماسره شان اوشوکت دې.که ستازماپه فضیلت کښې څه شک وی نوزۀ تیاریم چه زۀ او تۀ لارشواوالله تعالی نه سوال اوکړواواوګوروچه الله تعالی د چا دعا قبلوی.حضرت موسیؑپه دې خبره راضی شو،اودواړه لاړل.حضرت موسیؑورته اوفرمائیل چه اول زۀ دعااوکړم یاتۀ دعاکوې؟هغۀ ورته اووئیل چه نااول به زۀ دعاکوم.اوس هغۀ دعاغوښتل شروع کړل خوقبوله نه شوه.حضرت موسیؑورته اوفرمائیل چه اوس زۀ دعاکوم.دۀ ورته اووئیل چه ښه ده اوغواړه.دوی اللهﷻ ته سوال اوکړو چه یاالله!زمکې ته حکم ورکړه چه څه ورته زۀ وائیم هغه منی.الله تعالی ددۀ دعاقبوله کړه.اووحی راغله چه مازمکې ته ستاخبرې منلوحکم ورکړې دې.حضرت موسیؑچه داواوریدل نووې فرمائیل، اې زمکې دې اوددۀ ملګرې اونیسه،هم هغه ځائې دې اوددۀ ملګرې خښې شو،بیائې اوفرمائیل چه وې نیسه، دوی دځنګونوپورې خښ شو،حضرت موسیؑورته اوفرمائیل چه نور ئې هم اونیسه،نودوی د نامۀ پورې خښ شو.بیائې اوفرمائیل چه ددۀ خزانې اومال هم دلته راوړئ ، هم هغه وخت ددۀ ټولې خزانې اومال دولت راغې اوهغوی پخپلوسترګوهغه اولیدل بیاحضرت موسیؑ خپل لاس سره اشاره اوکړه، تۀ دوی سره دخزانو نی دننه کړه،هم هغه وخت کښې دوی ټول برباد شو،اوزمکه چه مخکښې ځنګه وه هم هغسې شوه،روایت دې چه تراوومې زمکې پورې دوی هم هغسې خښ شو.داقول هم دې چه هره ورځ دوی دانسان دقدبرابرلاندې طرف ته خښیږی. د قیامت پورې به دوی په دې عذاب کښې وی.دلته نورهم ډیربنی اسرائیلی روایتونه دی.خومونږ دهغې بیان پریښودې دې.نه خومال دهغوی په کار راغې اونه جاه وحشمت اودولت اوغروراوتکبردهغوی دمدددپاره راپاځیدو،اونۀ ئې په خپله ځان بچ کړې شو.تباه شو،بې نشانه شو،وران اوورک کړې شو.هغۀ وخت دهغه خلقوسترګې هم پرانستې شوې چاچه دقارون مال اواودهغۀ عزت ته دلالچ په نظرسره کتل اوهغۀ ئې خوش نصیبه ګنړلواویخ یخ اسویلی به کول،اورشک به ئې کولو،چه ارمان مونږ هم دومره دولتمندوې،هغوی ورته اووئیل چه اوس مواولیدل واقعی چه ربښتیادی ،دولت مندکیدل دالله تعالی درضامندئ سبب نه دې.داخودالله تعالی حکمت دې چه چاته اوغواړی زیاته ورکړی اوچاته چه اوغواړی کمه ورکړی،په چاچه اوغواړی فراخی

Scanned with Ca

راولي اوپه چاچه اوغواړي تنګي راولي.دغۀ د حکمتونوهم هغۀ ته پته ده.په يوحديث کښې داهم دی چه الله تعالی په تاسوکښې داخلاق تقسيم هم دغسې کړې دي چه څنګه دروزئ،مال خودالله تعالی د طرف نه دهغۀ دوستانوته هم ملاويږی.اودهغۀ دشمنانوته هم.البته ايمان دالله تعالی دطرف نه هغۀ ته ملاويږی څوک چه الله تعالی اوغواړی(۱)دقارون دغه شان په زمکه کښې خښيدل چه هغوخلقواوليدل چاچه دهغۀ په شان دجوړيدوامیدونه کول وې وئيل چه کۀ دالله تعالی لطف کرم اواحسان په مونږه باندې نه وې نوزمونږ ددې خواهش په بدله کښې کوم چه زمونږ په زړۀ کښې ووچه ارمان مونږ هم ددۀ په شان وې نونن به الله تعالی مونږ دهغۀ سره خښ کړې وو.هغۀ کافروواوکافردالله تعالی په نزددفلاح لائق نه وی.نه هغوی ته په دنياکښې کاميابی ملاويږی اونۀ به په اخرت کښې خلاصې بيامومی.

د(وَيْكَأَنَّ) تحقيق:-نحوی وائی(ويكان) معنی (ويلك اعلمان) ده،خومخفف کړې ئې ده او(ويك) پاتې شوه، او ددې دکاف دفتحه سره (اعلم) په مخذوف کيدوباندې دلالت کوی.خودې قول ته ابن جريرضعيف وئيلی دې.خوزۀ وائيم چه داضعيف وئيل ورته تيك نه دی.په قران کريم کښې ددې دکتابت په يوځائې کيدل ددې دضعيف کيدووجه جوړيدې نه شی.ځکه چه دکتابت طريقه خواختراعی امردې چه رواج ئې بيا موندواومعتبراوګنړلې شو.دې سره په معنی څه اثرنه پريوځی.والله اعلم.دويمه معنی ددې (الم تران) کړې شوې ده.اوداهم وئيلې شوی دی چه داهم دغه شان دوه لفظه دی.(وی) او(كان) ، حرف (وی) دتعجب دپاره ده يادخبرداريۀ دپاره او(كان) معنی کښې اظن دپاره دی.په دې ټولو قولونو کښې قوی قول دادې چه داپه معنی کښې(الم تر)دپاره ده،يعنی تااونه ليدل څنګه چه دقتاده mقول دې هم دغه معنی په عربی شعرکښې هم تری مراددە.

تِلْكَ	الدَّارُ	الْاٰخِرَةُ	نَجْعَلُهَا	لِلَّذِيْنَ
دا	کور	اخری	مقرر ووۀ مونږ	دپاره دهغه خلقو
دا د اخرت کورمونږ هغه خلقو دپاره تيار کړې دې				
لَا يُرِيْدُوْنَ	عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ	وَلَا فَسَادًا ؕ	وَالْعَاقِبَةُ	لِلْمُتَّقِيْنَ ۝
چې نۀ غواړي	لوئې په زمکه کښې	اونۀ فساد	او ښۀ انجام	دپاره دپرهيزګارانو دې
چې په زمکه کښې تکبر او فساد کول نه غواړي	.....			اواخرت خو دپرهيزګارانو دپاره ښه دې
مَنْ	جَآءَ بِالْحَسَنَةِ	فَلَهٗ	خَيْرٌ	مِّنْهَا ۚ	وَمَنْ	جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ
چاچې	اوکړه نيکی	نوهغه لره ده	بهتره	دهغې نه	او چاچې	اوکړه بدی
چا چې دالله ﷻ دربار ته نيکی راوړه		نو هغه ته به د هغې نه غوره بدله ورکولې شی				
فَلَا يُجْزَى	الَّذِيْنَ	عَمِلُوا	السَّيِّاٰتِ	اِلَّا	مَا	كَانُوْا
نوبدله به نۀ ورکړې کيږی	هغه کسانوته	چې کوی	بدکارونه	مګر	هغه	چې ووۀ هغوی
اوچا چې څان سره بدی راوړه نو بدکارو کسانو ته فقط هغه هومره بدله ورکولې شی						
يَعْمَلُوْنَ ۝						
چې کول به ئې						
څومره چې هغوی کول						

(۱) احمد:۳۸۷/۱.

قوله تعالى:- تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ

په پرهيز كاروباندې دانعام تذكره:- فرمائی چه دجنت اواخرت نعمت به صرف هغۀ ته ملاويږی دچا زړونوچه دالله ﷻ دويرې نه ډك وی.اوددنياژوندپه عاجزئ اواخلاقوسره تيركړی.خپل ځان دچانه اوچت اولوړ اونه ګڼړی.اواخواديخوافسادنه خوروی اوسركشی اوفسادنه كوی.اودچامال په ناحقه نه خوری. د رب په زمكه درب نافرمانی نه كوی.دحضرت علی رضی الله عنه نه نقل دی چه دچاداخبره خوښه شی چه دهغۀ د څپلې تسمه دهغۀ دملګری دتسمې نه ښه وی نوهغۀ هم په دې ايت كښې داخل دې. (۱)

قوله تعالى:- عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ

ښائسته بدې نه دې خو چې تكبرپه كښې نه وی:- ددې نه مراددادې چه كله هغه فخراوغروراوكړی، كۀ صرف دښائست دپاره غواړی نوځه نقصان پكښې نشته،ځنګه چه دصحيح حديث نه ثابته ده چه يو كس اووئيل يارسول الله!زماخوداخواهش وی چه زما څادرهم ښه وی اوزماځپلئ هم ښه وی نوايادام تكبردی.حضور ﷺ ورته اوفرمائيل،نه داخوابنائست دی،الله تعالى جميل دې اوجمال خوښوی(۲) بيانې اوفرمائيل چه څوك زمونږ خواته نيكی راوړی هغۀ به د ډيرنيكوثواب بياموميدامقام فضل دی، او د بدئ بدله صرف هم دهغې په شان سزاده دامقام عدل دی.په بل ايت كښې دی ﴿وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ ؕ﴾ څوك چه به ځان سره بدی راوړی هغه به پرمخ اورته ځی .تاسوته به هم هغه بدله دركړې شی څه چه تاسوكول.

اِنَّ الَّذِيْ	فَرَضَ	عَلَيْكَ	الْقُرْاٰنَ	
بيشكه هغه ذات	چې فرض كړې ئې دی	په تاباندې	دا قرآن	
يقينا هغه الله ﷻ چا چې په تاباندې دقرآن پاك(حكمونه او عمل) فرض كړې دی				
لَرَآدُّكَ	اِلٰى مَعَادٍ ؕ	قُلْ	رَّبِّيْۤ	اَعْلَمُ	مَنْ
خامخا واپس بوتلونكې دې تالره	خائې دوعدې ته	اووايه	رب زما	ښه پوهيږی	په هغه چا
هغه به خامخا تا (اصلی) مقام ته واپس كړځوی	(ائې محبوبه) ته ورته اووايه چې زما رب هغه څوك				
جَآءَ بِالْهُدٰى	وَمَنْ	هُوَ	فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝	وَمَا كُنْتَ	
چې راتله نې كړې دی په هدايت	اوپه هغه چا	چې هغه	په ګمراهئ ښكاره كښې دی	اونۀ وې تۀ	
ښه پيژنی چې رښتونې دين ئې راوړې دی	اوڅوك چې په ښكاره ګمراهئ كښې پروت دی			اوستا خو	
تَرْجُوْۤا	اَنْ يُّلْقٰۤى	اِلَيْكَ	الْكِتٰبُ	اِلَّا	رَحْمَةً
چې اميددلرلو	چې رااوبه ليږلې شی	تاته	كتاب	مګر	رحمت دې
دااميد نه وو چې داكتاب به درباندې نازل شی	دا خو صرف ستا د رب				
مِّنْ رَّبِّكَ	فَلَا تَكُوْنَنَّ	ظَهِيْرًا	لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝	وَلَا يَصُدُّنَّكَ	
دطرفه درب ستانه	پس مۀ كيږه تۀ	مددګار	دپاره دكافرانو	اومنع نۀ كړی تا(كافران)	
رحمت وو	نو ته كله هم د دې كافرانو مرسته مه كوه	.....	اوكله چې تاته د الله ﷻ		

---

۱) الطبری: ۶۳۸/۱۹.

۲) صحيح مسلم كتاب الايمان باب تحريم الكبر وبيانه: ۹۱، ترمذی: ۱۹۹۹، احمد: ۴۵۱/۱.

Scanned with Ca

عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ
دایتونو دالله نه | روستو ددې نه | چې کله | نازل شې | تاته | او دعوت ورکوه | طرف درب خپل ته
حکمونه راورسیدل | نو خیال ساته چې دوئ دې تري منع نکړې شي | او دخپل رب طرفته بلنه کوه
وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ
اومهٔ کیږه ته | دمشرکانونه | اومهٔ رابله | دالله سره | معبود بل
اوپه مشرکانو کښې مه شاملیږه | ..... اودالله ﷻ سره بل معبود (په خپل عبادت کښې) مه رابله
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ؕ
نشته دې لائق دعبادت | مګر | هم هغه دې | هر څیز | هلاکیدونکې دې | مګر نهٔ | مخ دهغه
دهغه نه سوا بل معبود نشته | ..... دهغه نه سوا هر څیز فناکیدونکې دې |
لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝
هغه لره بادشاهي ده | او خاص هم هغه ته به | تاسو واپس کیږئ |
صرف دهغه حکم چلیږي | اوتاسو ټول به ورته خامخا واپس کیږئ

قوله تعالى:- اِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ

دحشرپه میدان کښې به سوال کیږي: الله تعالى خپل نبي ﷺ ته حکم فرمائی چه درسالت تبلیغ کوه، او خلقوته دالله ﷻ کلام اوروه، الله تعالى تاله دقیامت طرف ته واپس بوتلونکې ئې، اوهلته به دنبوت په باره کښې تپوس کیږي. څنګه چه فرمان دې. ﴿فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْئَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ۝﴾ یعنی د امتونو نه اودرسولانوټولونه به مونږ تپوس کوو. په بل ایت کښې دی چه رسولان به راجمع کړي اوالله ﷻ به تري تپوس اوکړي چه تاسوته څه جواب درکړې شو؟ په بل ایت کښې دی چه نبیان اوګواهان به راوستې شي

قوله تعالى:- مَعَادٍ ؕ

د﴿مَعَادٍ ؕ﴾ معنی اومطلب:- دمعادنه مرادجنت هم کیدې شي. مرګ هم کیدې شي، دوباره ژوندهم کیدې شي. چه په دویم ځل ژوندی شي اوجنت ته داخل شي. په صحیح بخاری کښې دی چه ددې مرادمکه ده. (۱) دمجاهد نه روایت دې چه ددې نه مرادمکه مکرمه ده، کوم چه دحضور ﷺ دپیدائش ځائې دې. (۲) ضحاك ؒ فرمائی چه حضور ﷺ کله دمکې نه اووتو، لاپه حجفه کښې وو، چه دحضور ﷺ په زړه کښې د مکې شوق پیداشو، پس دا ایت نازل شو. اوحضور ﷺ سره وعده اوشوه چه واپس به مومکې مکرمې ته رسوو، ددې نه داهم معلومیږي چه دا ایت مدنی وی. حالانکه پوره سورت مکی دې. داهم ونیلې شوی دی چه ددې نه مرادبیت المقدس دې. کیدې شی چه دوئیونکی غرض ددې نه هم دقیامت وی. ځکه چه بیت المقدس دمحشرزمکه ده. ددې ټولوقولونودجمعې کولوصورت دادې چه حضرت ابن عباس ؓ کله ددې تفسیردحضور ﷺ مکې ته واپس دراتلوچه دمکې دفتح کیدوپه وخت پوره شو او دا د حضور ﷺ د عمر دپوره کیدویوزبردست علامت وو. څنګه چه دوی دسورت ﴿اذاجاء﴾ په تفسیرکښې اوفرمائیلو، دکوم چه حضرت عمرهم موافقت کړې دې. اوفرمائیلې نې ووچه څه تاته معلوم دی هغه ماته هم معلوم دی. هم دغه وجه ده چه هم ددۀ نه دې ایت سره چرته چه مکه روایت ده هم هلته دحضور ﷺ انتقال هم مروی دې. اوکله قیامت سره تفسیراوکړوځکه چه دمرګ نه پس قیامت دې. اوکله دجنت سره تفسیر اوکړوچه د

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة القصص باب ﴿ان الذین فرض علیك القرآن﴾: ٤٧٧٤.
(۲) الطبری: ۱۹/٦٤١.

Scanned with Ca

حضورﷺ داوسیدوخائي دي.او د حضورﷺ دتبلیغ اورسالت بدله ده.چه حضورﷺ انسانانو او پیریانو نه د الله تعالی ددین دعوت ورکړو،اوحضورﷺ دتمام مخلوق نه زیات کامل زیات فصیح او زیات افضل وو. بیائي اوفرمائیل چه خپلومخالفینواونه منونکوته اووائیه چه په مونږ کښې دهدایت واله اوګمراهۍ والا الله ﷻ ښه پیژني.تاسوبه اووینئ چه انجام چاته بهترملاویږي.اوپه دنیااواخرت کښې بهتری اوښیګره دچایه حصه کښې راځي.

قوله تعالی:- وَمَا كُنْتَ تَرْجُوٓا

دیو بل غټ نعمت بیان:- بیاخپل یوزبردست نعمت بیان فرمائی چه دوحی نه نازلیدونه مخکښې ستابه چرې په خیال کښې هم نه راتلل چه په تابه دالله کتاب نازلیږی.داخوپه تااوپه ټول مخلوق دالله تعالی رحمت اوشوچه هغۀ په تاخپل پاك اوافضل کتاب نازل کړو.اوس تالره هېڅ کله دکافران مددګارکیدل پکارنه دی.بلکه دهغوی نه بیلیدل پکاردی.اودهغوی نه بې زاری ښکاره کول پکاردی.اودهغوی نه دمخالفت اعلان کول پکاردی.بیائي فرمائیلي دی چه دالله تعالی دنازل کړې شوې ایتونونه داخلق چرته تامنع نه کړی،یعنی داچه دوی ستاددین مخالفت کوی اوخلق ستادتابعدارئ نه منع کوی نو د دوی هیڅ قسمه اثرمه اخله،په خپل کارکښې لګیااوسه،اللهﷻ ستاکلمې لره پوره کولووالە دي .ستا د دین مددکولووالە دي،ستارسالت لره غالب کولووالە دي.په ټولودینونوباندې ستادین لره اوچتولووالە دي.تۀ دخپل رب دعبادت طرف ته خلق رابله،کوم چه یواځې اولاشریك دي.تاته نه دی پکارچه تۀ د مشرکان ملګرتیااوکړې،دالله تعالی سره بل چاته اوازمه کوه دعبادت لائق هم هغه دي.دالوهیت قابل هم دهغۀ عظیم الشان ذات دي.هم هغه دائم اوباقی دي.حي وقیوم دي،ټول مخلوقات به مړۀ شی اوهغۀ دمرګ نه لرې دي.ځنګه چه ئې اوفرمائیل ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ۝﴾ هرڅه چه په دې باندې دی فانی دی.ستادرب مخ به باقی پاتې شی.کوم چه دجلالت او کرامت واله دي.

قوله تعالی:- إِلَّا وَجْهَهُۥ

د(وَجْهَهُۥ) مطلب:- دوجه نه مرادذات دي.رسول اللهﷺ فرمائی چه دټولونه زیات رښتوني کلمه د لبید شاعر ده چه هغۀ وئیلې وه،(الاکل شئ ماخلاالله باطل)یادلرئ درب تعالی نه سواهرڅه باطل دی([1]) دمجاهدm او ثوری ؒرح ؒنه روایت دي چه هرڅیزباطل دي.مګرهغه کارچه دالله تعالی درضامندئ دپاره اوکړې شی د هغې ثواب پاتې شی.دشاعرانوپه شعرونوکښې هم دوجه لفظ ددې مطلب دپاره استعمال شوې دي .اوګورئ:

استغفرالله ذنبالست محصیه ..... رب العباد الیه الوجه والعمل.

زۀ دالله تعالی نه چه دټولوبندګانورب دي دچاطرف ته چه توجواوقصددې دچادپاره چه عمل دي د خپلو ټولوګناهونوبخښش غواړم.کوم چه زۀ شمیرلې نه شم.داقول دمخکینی قول خلاف نه دي داپه خپل ځاني صحیح دي چه دانسان ټول اعمال پرباددی صرف هم ددې نیکودبدلې مستحق دي.کوم چه صرف دالله تعالی درضاحاصلولودپاره وی.اوداولنی قول مطلب هم بالکل صحیح دي چه ټول ساه لرونکی فانی اوختمیدونکی دی.صرف دالله تعالی ذات پاك دي چه دفنااوزوال نه اوچت دي .هم هغه اول اوهم هغه اخردي هم دځیزنه مخکښې وواوهرڅیزنه پس به وی.روایت دي چه کله ابن عمرؓ به خپل زړ مضبوطول غوښتل نوپه ځنګل به چرته دیوکندۍپه دروازه کښې اودریدواوپه درناك اواز سره به ئې وئیل چه ددې جورونکی چرته دی؟بیابه ئې په خپله په جواب کښې دااایت لوستلو.حکم ،ملك او ملکیت هم دهغۀ دي مالك اومتصرف هم هغه دي.دهغۀ حکم څوك ردکولې نه شی.دقیامت په ورځ به

[1]) صحیح بخاری کتاب الادب باب ما یجوز من الشعراء والرجز والحداء وما یکره منه:٦١٤٧، صحیح مسلم:٢٢٥٦.

ټول دهغهٔ طرف ته واپس ځی،هغهٔ به ټولوته دهغوی دنیکیٔ بدله ورکوی نیك ته دنیکیٔ بدله اوبدته د بدیٔ سزا.الحمدلله،دسوره قصص تفسیرختم شو.

ایاتونه		سورة العنكبوت مكية وهي تسع وستون آية وسبع ركوعات		ركوع ګاني
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکي دي		⑦
⑲	الٓمّٓ ۝١	اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا		
		الف . لام . میم	آیا ګمان اوکړو	خلقو	چې پرې به ښودې شی دوئ	چې اوبه وانی دوئ	
		الف لام میم	آیا خلق دا ګمان کوی	چې دوی صرف دا اووائی چې مونږ ایمان راوړي دي نو داسې به			
		اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ۝ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ					
		چې ایمان راوړو مونږه	او دوئ به	اونهٔ آزمائیلې شی	حالانکه آزمائیلی ووٚ مونږه	هغه کسان	
		پریخودې شی او څهٔ امتحان به پرې نشی کولې	.....	اومونږ د دوې نه په مخکنو			
		مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا					
		چې مخکښی ددوئ نه ووٚ	پس ضرور به معلوموی	الله	هغه کسان	چې رښتینی دی	
		خلقوهم امتحان کړې وو	انو الله به ضرورهغه کسان ښکاره کوی چه د ایمان په دعوی کښې رښتونی دی				
		وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ					
		او خامخا به معلوموی	دروغژنان خلق	آیا ګمان اوکړو	هغه کسانو	چې کوی کارونه	
		او ضرور به دروغژن هم ښکاره کوی	.....	آیا کوم خلق چې ګناهونه کوی د هغوی دا خیال دې			
		السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝					
		بد	اچې ګنی ورڅخه دې به شی هغوئ زمونږ نه	ډیربد دي	هغه حکم	چې کوی ئې هغوئ	
		چې زمونږ نه بچ شی (اومونږ به ورته سزا ورنکړو)	دوی (زما د قدرت په باره کښې) ډیره غلطه اندازه لګوی				

قوله تعالی:- اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا

دمومن خوبه اوس لاامتحان وی:- دحروف مقطعه بحث په سوره بقره کښې تیرشوې دي.بیافرمانی چه دا ناممکنه ده چه مومن دامتحان نه پرینبودې شی.په صحیح حدیث کښې دی چه دټولونه سخت امتحان دنبیانووی. بیاد صالحواونیکوخلقو،بیادهغوی نه دکمې درجې والا،اوبیادهغوی نه هم دکمې درجې والادانسان امتحان دهغهٔ ددین دانداز مطابق وی.کهٔ په دین باندې سخت وی نو مصیبتونه هم سخت نازلیږی(۱) هم ددې مضمون بیان په دې ایت کښې دي. ﴿اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ﴾ ایاتاسوداګمان کړې دې چه تاسوبه پرینبودې شئ حالانکه لاتر اوسه پورې الله تعالی دا ظاهرکړی نه دی چه په تاسوکښې مجاهد څوك دي؟اوصابرڅوك دي؟هم دغه شان په سوره التبوبه او سوره بقره کښې تیرشوی دی.چه ایا تاسو دا سوچ کړې دې چه تاسوبه جنت ته هم دغسې لاړ شئ؟اودمخکینوخلقوپه شان سخت امتحانونه به په تاسونه راځی.چه هغوی ته لوږه دردوغیره

(۱) ترمذی کتاب الزهد باب ماجاء فی الصبرعلی البلاء: ۲۲۹۸وهو حسن، ابن ماجه:۴۰۲۳، احمد:۱/۱۷۲،حاکم:۱/۴۱.

اورسیدو تردې پورې چه رسول اودهغۀ ایمان دارو ملګرو اوونیل چه دالله تعالی مددچرته دې؟یقین اولرئ چه دالله تعالی مددنزدې دې.دلته ته ئې هم اوفرمائیل چه ددې نه د مخکینو مسلمانانو هم جانچ پرتال شوې وو، په هغوی هم دسختواومصیبتونومزه اوځکلې شوه تاکه چه په هغوی کښې کوم په خپله وعده کښې رښتونې دی اوهغه چه صرف زبانی دعوی کونکی دی په هغې کښې فرق اوکړې شی.اوهغۀ دااونه ګنړی چه الله تعالی هغه پیژندلې نه دې، هغه هره شوې خبره اوهره کیدونکې خبره باندې خبردار دی.

قوله تعالی:- فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ

دلته علم په معنی د لیدلو دې:- په دې باندې داهل سنت دټولوامامانواجماع ده .پس دلته علم رویت یعنی دکتومعنه ده،حضرت ابن عباس﷜(لنعلم)معنی په لرلې سره کوی،ځکه چه دلیدوتعلق دموجوده څیزونه سره وی.اوعلم ددې نه عام دې.بیافرمائی چه چاایمان نه دې راوړې هغوی دې داګمان هم نه کوی چه هغوی به دامتحان نه بچ شی لوې لوې عذابونه اوسختې سزاګانې دهغوی په تکل کښې دی.دوی زمونږ دلاس نه وتې نه شی.زمونږ نه مخکښې تلې نه شی،ددوی داګمان ډیر بد دې دکوم نتیجه چه به ډیره زراوویني.

مَنْ	كَانَ يَرْجُوْا	لِقَآءَ اللّٰهِ	فَاِنَّ	اَجَلَ اللّٰهِ	لَاٰتٍ ؕ
هغه څوك	چې امید لري	دملاقات دالله	نو بیشکه	نیته دملاقات دالله	خامخا راتلونکی ده
څوک چې دالله ﷻ سره د ملاقات امید ساتی	انو د الله ﷻ مقرر شوې نیته خامخا راتلونکې ده				
وَهُوَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ ۝	وَمَنْ جَاهَدَ	فَاِنَّمَا	
او هغه	هر څه اوریدونکې	او په هر څه پوهه دې	او چاچې محنت اوکړو	پس بیشکه	
اوهغه د هر څه اوریدونکې او لیدونکې دې	اوڅوک چې د الله په تابعدارئ کښې کوشش کوی نو				
يُجَاهِدُ	لِنَفْسِهٖ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	لَغَنِيٌّ	عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝	
هغه محنت کوی	دپاره نفس خپل	بیشکه الله	خامخا بې پروا دې	دمخلوقاتونه	
هغه د خپلې فائدې دپاره کوشش کوی	بیشکه الله ﷻ د ټولو کائناتونه بې پرواه دې				
وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	لَنُكَفِّرَنَّ	عَنْهُمْ	
او هغه کسان	چې ایمان ئې راوړو	او عملونه ئې اوکړل نیك	خامخا به لرې کړو مونږ	دهغوئ نه	
اوکومو کسانو چې ایمان راوړې دې	اونیک عملونه ئې کړی دی	مونږ به د هغوئ نه			
سَيِّاٰتِهِمْ	وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ	اَحْسَنَ	الَّذِيْ كَانُوْا		
بدیانې (ګناهونه) دهغوئ	او خامخا به بدله ورکړو مونږ هغوئ له	ښه بدله دهغې	چې وو هغوئ		
دهغوی ګناهونه لرې کړو	اوهغوی ته به د هغوی د نیکو عملونو ډیره ښه بدله ورکړو				
يَعْمَلُوْنَ ۝					
چې کول به ئې					

Scanned with Ca

قوله تعالی:- وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ

نیک کارکول هم جهاددي:- دچاچه داخرت دبدلوامیددي،هغوی دامخي ته کیدی اونیکئ کوی.دهغوی امیدونه به پوره شی.اودوی ته به نه ختمیدونکي ثواب ملاویږی.الله ﷻ ددعاګانواوریدووالله اوټول کاننات نه خبرداردي.دالله ﷻ مقررکړي شوي وخت لري کیږی نه،بیافرمانی چه هرنیك عمل کونکي د خپل خان دپاره ګټه کوی.الله تعالی دبدګانودعملونونه بې پرواه دي.که ټول انسانان متقیان جوړشی نودالله تعالی په بادشاهئ کښي څه زیات والي نه شي راتلي،حسن رحمه الله فرمانی چه جهاد یوازي دتوري چلولونوم نه دي.انسان که دنیکوپه کوشش کښي لګیاوی نوداهم دیوقسم جهاددي.په دي کښي شك نشته چه ستاسونیکئ دالله ﷻ څه پکارنه راځی،خوبیاهم دادهغهٔ مهربانی ده چه هغه تاسوته په نیکو باندې بدله درکوی.ددي په وجه ستاسوبدئ معاف کوی دوړې نه دوړې نیکئ قدرکوی اوپه هغي باندې دلوي نه لوي اجرورکوی.دیوي یوې نیکئ اؤوه سوه چنده بدله ورکوی.اوبدی یا خو بالکل معاف کړی یادهغي برابرسزاورکوی.هغهٔ دظلم نه پاك دي نیکئ سواکوی اوخپل طرف نه اجر عظیم ورکوی.دایمان والودسنت مطابق نیکئ قبلوی اودهغوی ګناهونه معاف کوی اوهغوی ته د نیکو عملونو بدله ورکوی.

وَوَصَّيْنَا	الْاِنْسَانَ	بِوَالِدَيْهِ	حُسْنًا ؕ	وَاِنْ		
او هدایت کړي دي مونږه	انسان ته	دمور اوپلار سره	دنیك سلوك	اوکه چری		
اومونږ انسان ته دمور پلار سره د ښه سلوک حکم کړي دي	او «دا حکم مو هم ورکړي دي»					
جَاهَدٰكَ	لِتُشْرِكَ	بِيْ	مَا	لَيْسَ	لَكَ	بِهٖ عِلْمٌ
جګړه کوی ستاسره	چی ته شریك کړي	زما سره	هغه	چی نهٔ وی	تاله	په هغي باند علم
که هغوئ ما سره په شرک کولو تامجبور کړی د کوم په جواز چې تاسره څه علم نشته						
فَلَا تُطِعْهُمَا ؕ	اِلَيَّ	مَرْجِعُكُمْ	فَاُنَبِّئُكُمْ			
نومهٔ منه دهغوئ دواړو	خاص ماته	واپس راتلل دی ستاسو	پس زهٔ به خبر درکړم تاسوته			
نود هغوئ دواړو تابعداری مکوه	ستاسو ټولو ماته پیش کیدل دی	نو زهٔ به تاسو ته ستاسو				
بِمَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ ۝	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	
په هغي کارونو	چی وئ تاسو	چی کول به مو	اوهغه کسان	چی ایمان ئي راوړو	اوعملونه ئي اوکړل	
دهغه عملونو خبر درکړم کوم چې تاسو کول	اوکومو کسانو چې ایمان راوړي دي	او نیك اعمال				
الصّٰلِحٰتِ	لَنُدْخِلَنَّهُمْ	فِي الصّٰلِحِيْنَ ۝				
نیك	خامخا به داخل کړو مونږ هغوئ	په صالحانو کښي				
کوی	نو مونږ به یې خامخا په نیکانو کښي شامل کړو					

قوله تعالی:- وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ؕ

دمورپلار مشروط اطاعت واجب دي:- اول ئي په خپل توحیدباندي په سختئ سره دقائم پاتي کیدوحکم اوفرمائیلواوس مورپلارسره داحسان حکم ورکوی.ځکه چه هم ددوی په وجه دانسان وجودوی،پلارخرچ

کوی اوپرورش کوی.مور ورسره محبت ساتی اوپالنه ئې کوی.په دویم ایت کښې فرمان دی ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ الخ.الله تعالی فیصله کړې ده چه تاسودهغۀ نه علاوه دبل چاعبادت مه کوئ اودمورپلارپوره اطاعت کوئ،په دوی دواړوپاپه دوی کښې کۀ په یوباندې دبوډاتوب وخت راشی نو هغوی ته اف هم مۀ وایئ رتنه پکښې لادکومې؟بلکه هغوی سره په ادب سره خبرې کوې اودرحم سره د هغوی په وړاندې ښکته کیږئ اوداالله تعالی نه دهغوی دپاره دعاغواړئ چه ای الله،په دوی داسې رحم اوکړه څنګه چه به دوی په ماپه وړوکوالی کښې کولو،لیکن داخیال ساتئ که دوی مودشرک طرف ته رابلی نوددوی خبره مه منئ،پوهه شئ چه یوه ورځ تالره زماپه وړاندې ودریدل دی.هغه وخت به زۀ د خپل عبادت اوزمادحکم مطابق دمورپلاردا طاعت بدله درکوم.اونیکوخلقوسره به دې حشراوکړم.کۀ تادمورپلارهغه خبرې اونه منلې چه زماداحکاموخلاف نه دی خواه که هغه هر څنګه وی زۀ به تادهغوی نه بیل کړم.ځکه چه دقیامت په ورځ به انسان دهغۀ سره وی څوک چه به د هغۀ په دنیاکښې خوښ وو.ځکه ئې ددې نه پس اوفرمائیل چه په ایمان والواونیك عملو او صالحانو بندګانوکښې به مو ملاو کړم.حضرت سعدؓفرمائی چه زماپه باره کښې څلورایتونه نازل شوی دی دا ځکه نازل شوچه زما مور ماته اووئیل چه ای سعد،ایادالله تعالی حکم زماسره دنیکئ کولونه دې؟کۀ تا د حضورﷺدنبوت نه انکاراونه کړونووالله زۀ به خوراك څخاك پریږدم.چنانچه هغې هم دغه شان اوکړل تر دې پورې چه خلقوبه په زبردستئ دهغې خوله پرانسته اوخوراك به ئې دهغې حلق ته اورسولوپس دایت نازل شو(۱)

وَمِنَ النَّاسِ	
او ځینی دخلقو نه	
او په خلقو کښې بعضې داسې دی	
مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ	
هغه څوك دی | چې وائی | چې ایمان راوړو مونږه | په الله باندې|خوهر کله چې |تکلیف ورکړې شو	
چې وائی مونږ په الله ﷻ ایمان راوړې دی | .....خوکله چې ورته دالله ﷺ په لار کښې (لږ ډیر) تکلیف	
فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ	
په لار دالله کښې | نووې ګنړو | آزمینښت دخلقو | پشان دعذاب دالله | او که چرې | راغې	
ورکړې شی | نود خلقو دلاس تکلیف د الله ﷻ د عذاب پشان ګنړی| او که چرې تاته د خپل رب د طرفه	
نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَلَيْسَ اللّٰهُ	
امداد دطرفه درب ستا نه | نو خامخا به وائی هغوئ | بیشکه ووُ مونږ | ستاسو سره | آیا نۀ دی الله	
څه مدد دراورسی| نو مومنانو ته وائی چې مونږ خو تاسو سره وو| آیا الله ﷻ په ټولو خبرو خبر نه دې	
بِاَعْلَمَ بِمَا فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ	
زیات خبردار | په هغه حال | چې په سینو دمخلوقاتو کښې دی | او خامخا به معلوموی الله	
چې د مخلوق په سینو کښې پټ دی | .....اوالله تعالی به خامخا هغه خلق ښکاره کړی کومو	

(۱) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابه باب فی فضل سعد بن ابی وقاصؓ:۱۷۴۸،ترمذی:۳۱۸۹.

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَلَيَعْلَمَنَّ	الْمُنٰفِقِيْنَ ﴿۱۱﴾
هغه کسان	چې ایمان نې راوړې دې	او خامخا به معلوموی هغه	منافقان خلق
چې ایمان راوړې دې	اوکوم چې منافقان دی	هغوئ به هم ضرور ښکاره کړی	

قوله تعالی:- وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

داهل ایمان امتحان اومنافق:- دهغه منافقانوذکرکیږی چه په ژبې سره دایمان دعوی کوی.لیکن چرته چه ورته دمخالفینودطرفنه څه تکلیف اورسیدونودوی هغه درب عذاب اوګنړی اومرتدشی.همدغه معنی ابن عباس﷜وغیره کړې ده.څنګه چه په بل ایت کښې دی ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ﴾ الخ یعنی بعضې خلق په یوه غاړه باندې اودریږی اوداللہ تعالی عبادت کوی.که راحت ورته ملاوشونومطمئن شی، اوکه مصیبت وراورسیدونومخ ئې اوګرځولو.الخ..دلته هم دغه بیان کیږی چه حضورﷺته که څه غنیمت ملاوشی څه ګټه ملاوشی نودوی خپل ځانونه دین داره ظاهروی.څنګه چه په بل ایت کښې دی (الذین یتربصون بکم)هغوی تاسوته ګوری که فتح اومددوی نواوازاوکړی چه ایامونږ ستاسونه نه یو؟اوکه د کافرانوخبره غلبه شی نودهغوی سره خپل سازبازجوړوی،چه ګوریٔ مونږ ستاسوملګرتیااوکړه او تاسو مویچ کړئ،اللہ تعالی اوفرمائیل چه ډیره ممکنه ده چه اللہ تعالی خپل نیك بندګان بالکل غالبه کړی، نودوی به په خپل دې پټ حرکت باندې بالکل ستومانه شی.دلته ئې اوفرمائیل چه داڅه خبره ده چه دوی ته دومره هم معلومه نه ده چه اللہ تعالی عالم الغیب دې.چرته چه ورته دزبانی خبرې پته ده هلته دزړهٔ خبره هم هغهٔ ته معلومه ده.اللہ تعالی به نیکئ اوبدئ اوپیژنی اونیك اوبداومومن اومنافق به جدا جداکړی.دنفس یاران به دګټې دپاره یوطرف ته شی اوپه ګټه تاوان کښې ایمان نه پریښودووالله به ظاهرشی.څنګه چه ئې اوفرمائیل﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ﴾الخ مونږ به په تاسو ازمیښتونه کوو،تردې پورې چه په تاسوکښې مجاهدین او صابرین مونږ ددنیاپه وړاندې ظاهرکړو، او ستاسو دخبروازمیښت اوکړو.داحددامتحان ذکرئې اوکړو او وې فرمائیل چه اللہ تعالی مومنانولره په هغه حالت کښې په کوم چه هغوی ووساتل نه غوښتل ،ترڅوپورې چه دپاك اوپلیت فرق اونه شی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّبِعُوْا
اووائی هغه کسان	چې کفر ئې کړې دې	هغه کسانو ته	چې ایمان ئې راوړې دې	چې پیروی اوکړئ
اوکافران خلق مومنانو ته وائی چې زمونږ دلارې تابعداری اوکړئ او تاسو هم مشرکان شئ نو اول خو قیامت شته نه اوکه وی				
سَبِيْلَنَا	وَلْنَحْمِلْ	خَطٰيٰكُمْ	وَمَا هُمْ	بِحٰمِلِيْنَ
دلارې زمونږه	او بار به کړو مونږه	خطاګانې ستاسو	او حال دا چې نۀ دی هغوئ	بارونکی
نو مونږ به ستاسو دګناهونو پیټی پخپلو ځانونو بار کړو			حالانکه دوئ (مشرکان) د هغوئ د ګناهونونه	
مِنْ خَطٰيٰهُمْ	مِّنْ شَيْءٍ	اِنَّهُمْ	لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۲﴾	وَلَيَحْمِلُنَّ
دخطاګانودهغوئ نه	هیڅ څیز لره	بیشکه هغوئ	بالکل دروغژن دی	او خامخا به بار کوی هغوئ
معمولی قدرې هم نشی بار کولې	بلکه دوئ سراسر دروغژن دی	.....	اودوئ به خپل پیټی هم	
اَثْقَالَهُمْ	وَاَثْقَالًا	مَّعَ اَثْقَالِهِمْ	وَلَيُسْـَٔلُنَّ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
پیټی خپل	او پیټی نور	دپیټو خپلو سره	او خامخاتری به تپوس کیږی	په ورځ دقیامت
اوچت کړی وی	اودوی به د خپلو سره د نورو(دګناهونو) پیټی هم اوچت کړی		اود قیامت په ورځ به	

Scanned with Ca

عَمَّا	كَانُوا	يَفْتَرُونَ ﴿٣﴾

دهغې دروغو | چې وۀ هغوئ | چې دخان نه به ئې جوړول | او په تحقيق سره اوليږو مونږ | نوح
تري د دې دروغو جوړولو په حق کښې خامخا تپوس کيږي | اومونږ نوح ﷺ

قوله تعالى:- وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

اعمال به ستاسو پخپل کار راشي: کفار قريش به دمسلمانانو دغلولو دپاره هغوی ته داوئيل چه تاسو زمونږ په مذهب باندې عمل کوئ، که په هغې کښې څه ګناه وی نوهغه په مونږ ده. حالانکه دااصولاً غلطه ده. چه ديوبوج بل اوچت کړی، دوی بالکل دروغ وائی څوک دخپل رشته دارګناه هم په خپل سر اخستې نه شی. دوست به ددوست په دغه ورځ پوښتنه نه کوی. اودغه خلق به په دغه ورځ د خپلو خپلو ګناهونو بوجونه اوچتوی، اوڅوک چه دوی ګمراه کړې وو، دهغوی بوج به هم دوی په سرکړې شی. خوهغه ګمراه کړې شوې خلق به هم بې بوجه نه وی. دهغوی بوج په هغوی باندې دې. ځنګه چه ئې اوفرمائيل ﴿لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ﴾ الخ. يعنی دوی به خپل اوج اوچتوی اوڅوک چه ئې غلولې وودهغوی د غلولو ګناه به هم په دوی وی. په صحيح حديث کښې دی چه څوک خلقو دهدايت طرف ته دعوت ورکړی ترقيامته پورې چه څوک په هغې باندې ځی هغوی ټولوته چه څومره ثواب ملاويږی هم هغومره ثواب به دۀ ته هم ملاويږی. ليکن دهغوی ثوابونوکښې به هم څه کمې نه راځی. هم دغه شان که چابدی خوره کړه اوپه هغې هرڅومره کسانوعمل اوکړودهغوی ټولوچه څومره ګناه وی هم هغومره به ددۀ هم وی. او د هغوی په ګناه کښې به څه کمې نه کيږی[1] په يوبل حديث کښې دی چه په زمکه باندې څومره مرګونه کيږی دحضرت ادم ﷺ هغه څوې چاچه په ناحقه خپل رورقتل کړې وو په هغۀ به ددې مرګ وبال پريوځی. ځکه چه بې خايه قتل هم دهغۀ نه شروع شوې وو[2] دهغوی دټولوبهتانونو او دروغو اوالزامونوبه دقيامت په ورځ تپوس کيږی ابوامامه ﷺ اوفرمائيل، حضور ﷺ د الله ﷻ ټول رسالت وراورسولو، حضور ﷺ داهم اوفرمائيلی دی چه د ظلم نه بچ شئ، ځکه چه دقيامت په ورځ به الله تبارک وتعالی اوفرمائی چه زماپه خپل عزت اوجلال باندې قسم دې چه نن به يوظلم هم نه پريږدم. بيابه يواعلان کونکې اعلان اوکړی چه فلانې فلانې چرته دی؟ هغه به راشی اودغرونوهومره نيکئ به دهغۀ سره وی. تردې پورې چه دمحشروالوبه دهغۀ طرف ته نظر شی هغه به راشی اودالله تعالی په وړاندې به اودريږی. بيابه اعلان کونکې اعلان اوکړی چه کۀ په دې باندې دچاحق وی، دۀ په چاظلم کړې وی هغه دې راشی اوخپله بدله دې واخلی. اوس به داخوا ديخوانه خلق راشی اواوبه دريږی. اوددۀ نه به ګير چاپيره شی اودالله تعالی په وړاندې به اودريږی. الله تعالی به ورته اوفرمائی چه زمادې بندګانوته حق ورکړه. فرشتې به اووائی اې الله، الله تعالی به ورته اوفرمائی ددۀ نيکئ راواخلئ اودوی ته ئې ورکړئ. نو هم دغه شان به اوکړې شی. تردې پورې چه يوه نيکی به هم ورسره باقی پاتې نه شی. او تردې پورې چه بعض مظلوم اوحقدار به باقی پاتې شی. الله ﷻ به حکم اوفرمائی چه ددوی ګناهونه په دۀ باندې بارکړئ. بيا حضور ﷺ اووريدو او ددې ايت تلاوت ئې اوفرمائيلو ﴿وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ﴾[3] په ابن ابی حاتم کښې دی چه حضور ﷺ اوفرمائيل اې معاذا د قيامت په ورځ به دومومن دټولو کوششو نه سوال اوکړې شی تردې پورې چه دهغۀ درنجو اچولو او د ختمې اغږلونه هم. ګوره چه داسې نه وی چه دقيامت په ورځ بل څوک ستانيکئ يوځی.

---

[1] صحيح مسلم كتاب العلم باب سن سنة حسنة سيئة: ٢٦٧٤، ابی داؤد: ٥٤٩، ترمذی: ٢٦٧١.
[2] صحيح بخاری كتاب الاعتصام باب اثم من دعا الی ضلال اوسن سنة سيئة: ٧٣٢١، صحيح مسلم: ١٦٧٧.
[3] الدرالمنثور ٢٧٢/٥، صحيح مسلم كتاب البر باب تحريم الظلم: ٢٥٨١، ترمذی: ٢٤٢٠، احمد: ٣٧١/٢، مسند ابی يعلی: ٦٤٤٩.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا	نُوحًا				
او په تحقیق سره اولیږو مونږ	نوح				
او مونږ نوح ﷺ					
إِلَىٰ قَوْمِهِ	فَلَبِثَ	فِيهِمْ	أَلْفَ سَنَةٍ	إِلَّا	خَمْسِينَ عَامًا
قوم دهغه ته	پس موده تیره کړه هغه	په هغوئ کښې	زر کاله	مګر نهٔ	پنځوس کاله
خپل قوم طرف ته لیږلی وو	نو هغه په کښې (د دعوت په غرض)		پنځوس کم زر کاله عمر تیر کړو		
فَأَخَذَهُمُ	الطُّوفَانُ	وَهُمْ	ظَالِمُونَ ۝	فَأَنْجَيْنَاهُ	
پس اونیول هغوئ	طوفان	حال دا چې هغوئ	ظالمان وو	بیا بچ کړو مونږ هغه	
نو بیا په هغوئ باندې طوفان راغلو	حال دا چې هغوی لوئې ظالمان وو		بیا مونږ هغه (نوح) او په		
وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ	وَجَعَلْنَاهَا	آيَةً	لِّلْعَالَمِينَ ۝		
او ملګري	دکشتئ	او جوړه کړه مونږه هغه	یو نښه (دعبرت)	دپاره دخلقو ددنیا	
بیړئ کښې سوارهٔ ټول مومنان بچ کړل	اودا واقعه مود ټولې دنیا دپاره عبرت اوګرځوله				

قوله تعالی:- وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا

د نوح ﷺ داوادې زمانې وعظ:- پدې کښې دحضور ﷺ تسلی ده حضور ﷺ ته خبرورکړې کیږی چه د حضرت نوح ﷺ دومره ډیروخت پورې خپل قوم دالله تعالی طرف ته رابللو. شپه ورځ په پته اوپه ښکاره هر قسمه هغهٔ دالله تعالی ددین دعوت ورکړو، لیکن هغوی په خپله سرکشئ اوګمراهئ کښې نورهم زیاتیدل، ډیرکموخلقوپه هغوی باندې ایمان راوړو، اخردالله تعالی غضب په هغوی باندې دطوفان په شکل کښې راغې اوهغوی ټې نهس نس کړل. نواې پیغمبراخرالزمان ﷺ ته دخپل قوم نه ددې تکذیب خیال نوې مه ګنړه، اوتهٔ خپل زړهٔ خفه کوه مهٔ. هدایت اوضلالت دالله تعالی په لاس کښې دې. دکوموخلقوچه جهنم ته تګ مقررشوې دې هغوی ته خوځوك هم هدایت ورکولې نه شی. اګرکه ټولې نشانې اوویني خوهغوی ته به ایمان نصیب کیږی نهٔ. نوپه اخره کښې چه څنګه نوح ﷺ ته خلاصې ملاو شواوقوم ټې ډوب شوهم دغه په اخره کښې غلبه ستاده، اوستامخالفت کونکی به بیلات کوی. دحضرت ابن عباس ﷺ قول دې چه دخلویښتوکالوپه عمرکښې حضرت نوح ﷺ ته نبوت ملاوشواودنبوت نه پس نهه نیم سوه کاله هغهٔ خپل قوم ته تبلیغ کولو، دطوفان دخاص اوعام هلاکت نه پس هم ترشپیتو کالو پورې ژوندې وو. تردې پورې چه دبنی آدمونسل زیات شو. اوپه دنیاکښې په ګنړشمیره په نظرراغلو. قتاده ﷺ فرمائی چه حضرت نوح ﷺ ټول عمرنهه نیم سوه کاله وو. دریم سوه کاله دوی بغیرددعوت نه په هغوی کښې تیر کړل، دریم سووکالوپورې دالله تعالی طرف ته خپل قوم رابللو، اودطوفان نه پس دریم نیم سوه کاله پورې ژوندې وو. خوداقول غریب دې. اودایت دظاهری الفاظونه خوهم دغه معلومیږی چه دوی دنهه نیم سوه کاله پورې خپل قوم دالله تعالی دوحدانیت طرف ته رابللو، عون بن ابی شداد وائی چه کله د دوی ﷺ عمردریم نیم سوه کاله ووهغه وخت دالله تعالی وحی په دوی ﷺ باندې نازله شوه، ددې نه پس نهه نیم سوه کاله پورې دوی خلقوته دالله تعالی کلام رسولو، ددې نه پس دریم نیم سوه کاله پورې عمر نوربیاموندهٔ. خوداهم غریب قول دې. زیات ټیك دحضرت ابن عباس ﷺ قول په نظرراخی. والله اعلم. ابن عمر ﷺ مجاهدته اووئیل چه حضرت نوح ﷺ په خپل قوم کښې څومره مودې پورې وو؟ هغهٔ ورته اووئیل نهه نیم سوه کاله پورې. دوی ورته اوفرمائیل ددې نه پس دخلقواخلاق اوعمرونه او عقلونه ترنن ورځې

پوري په کميدودی.کله چه دنوح ﷺپه قوم باندې دالله ﷻغضب نازل شونوالله تعالی پخپل فضل او کرم سره خپل نبی اودايمان والله کوم چه هغوی سره دهغوی په حکم باندې دطوفان نه مخکښې په کشتئ کښې سوارۀ شوې وو ،بچ کړل.په سوره هودکښې ددې ټول تفصيل تيرشوې دې.ددې وجې نه ئې مونږ دلته دوباره ذکرنه کوو.مونږدغه کشتئ ددنيادپاره دعبرت نښه جوړه کړه.ياخوپه خپله دغه کشتئ څنګه چه دحضرت قتاده قول دې چه داول اسلام پورې هغه دجودی په غرباندې وه.يادده کشتئ په ليدوسره په اوبوکښې دسفردپاره خلقوچه کومې کشتئ جوړې کړې دوی چه دااووينی نودالله ﷻ هغه بچ کيدل وريادشی(۱)څنګه چه فرمان دې﴿وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ۝ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ ۝﴾ الخ. زمونږ دقدرت يوه نښه دهغوی دپاره داهم ده چه مونږ دهغۀ نسل په يوه ډکه کشتئ کښې کښينولو،اومونږدهغوی دپاره نورې هم دغه شان سورلي جوړې کړی دی.الخ.په سوره الحاقه کښې ئې اوفرمائيل چه کله داوبوطوفان راغې نومونږ تۀ په کشتئ کښې سورکړلې.اوداواقعه موستا دپاره يويادګارجوړه کړه.چه کوموغوږونوته الله ﷻ د ياد ساتلو طاقت ورکړې دې هغوی ياد اوساتی دلته دکس نه دجنس ته ځتل شوی دی څنګه﴿وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ﴾ والا ايت کښې ئې د دنياوی اسمان ستورو لره داسمان ښائست اوفرمائيلواوددې نوعيت ئې دشيطانانودپاره دکانړوويشتل اوفرمائيل،په ايت کښې ئې دانسان دخاورې نه پيدا کيدو ذکر اوفرمائيلو،چه بيامونږ دې ته دنطفې شکل ورکړواوپه يو محفوظ خائې کښې ورته قرارګاه جوړه کړه.اوداهم کيدې شی چه په ايت کښې ﴿هَا﴾ دضميرمرجع عقوبت اوسزااوګرځې شی.والله اعلم.(دلته داخيال ساتئ چه دتفسيرابن کثيرپه بعضونسخوکښې دشروع په تفسيرکښې څه عبارات زيات دی چه په بعضونسخوکښې نشته.هغه دادې چه الله تعالی حضرت نوح ﷺلره نهه نيم سوه کاله پورې ازمائيل اوفرمائيل اودهغۀ دخپل قوم داطاعت ازمينښت ئې اوفرمائيل چه دهغوی د تکذيب په وجه الله تعالی هغوی ډوب کړل.بيائې دهغې نه پس اوسيزل،بيائې دحضرت ابراهيم ﷺدقوم ذکراوفرمائيلوچه هغوی هم فرمانبرداری اومتابعت اونه کړوبيائې د لوط ﷺ ذکراوفرمائيلواودهغۀ دقوم انجام ئې ذکراوفرمائيلو،بيائې دحضرت شعيب ﷺ واقعات مخې ته کړل، بيائې دعاديانو ، ثموديانو، قارونيانو،اوهامانيانوذکراوفرمائيلوچه په الله تعالی باندې دايمان نه راوړلواودتوحيدنه منلو په وجه دوی ته داداقسمه سزاګانې ورکړې شوې.بيائې دخپل پيغمبر اعظم المرسلين ﷺ دمشرکانواومنافقانودلاسه تکليفونه برداشت کول ذکراوفرمائيل، اوحضور ﷺ ته ئې حکم اوکړو چه د اهل کتاب سره په بهترينه طريقه مناظره کوه.

وَاِبْرٰهِيْمَ	اِذْ	قَالَ	لِقَوْمِهِ	اعْبُدُوا اللّٰهَ	وَاتَّقُوْهُ ؕ	
اواوليږومونږه ابراهيم	کله چې	اووئيل هغه	قوم خپل ته	ښندګی کوئ	دالله	اواويريږئ دهغه نه
اوابراهيم ﷺ (مو ليږلې وو) څه وخت چه هغه خپل قوم ته اووئيل اد الله ﷻ عبادت کوئ اودهغه نه ويريږئ						
ذٰلِكُمْ	خَيْرٌ	لَّكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ ۝	اِنَّمَا	تَعْبُدُوْنَ
دا کار	ښهتر دی	ستاسو دپاره	که يې تاسو	چې پوهيږئ	بيشکه	عبادت کوئ تاسو
که تاسو پوهيږئ نو دا خبره ستاسو دپاره غوره ده ..... تاسود الله ﷻ نه سوا د بتانو						
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	اَوْثَانًا	وَّتَخْلُقُوْنَ	اِفْكًا ؕ	اِنَّ الَّذِيْنَ	تَعْبُدُوْنَ	
بې دالله نه	دبتانو	او جوړوئ	دروغ دخانه	بيشکه هغه څوک	چې عبادت ئې کوئ	تاسو
عبادت کوئ	..... او دځان نه دروغ جوړوئ (چې دا خدايان دی)				تاسو چې دالله ﷻ نه سوا	

(۱) الطبری: ۱۸/۲۰.

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	لَا يَمْلِكُوْنَ	لَكُمْ	رِزْقًا	فَابْتَغُوْا
بې دالله نه	هيڅ اختيار نه لري	ستاسو دپاره	درزق درکولو	پس تلاش کړئ
د بل چا عبادت کوئ	هغوئ تاسو ته هيڅ روزی نشی درکولې	نو خپل رزق دالله ﷻ		

عِنْدَ اللّٰهِ	الرِّزْقَ	وَاعْبُدُوْهُ	وَاشْكُرُوْا	لَهٗ ط	اِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ ۝
په نز دالله	رزق	او بندگی کوئ دهغه	او شکر اوباسئ	دهغه	خاص هغه ته به تاسو واپس کيږئ	
سره اولټوئ	اودهغه عبادت کوئ	اودهغه شکر اداکوئ	اوتاسو به هغه ته واپس کيږئ			

وَاِنْ	تُكَذِّبُوْا	فَقَدْ كَذَّبَ	اُمَمٌ	مِّنْ قَبْلِكُمْ ط	
اوکه	دروغ اوګڼئ تاسو	نو دروغ ګڼلی دی	ډير قومونه	مخکښی ستاسو نه	
اوکه چرې تاسو (حقه خبره) دروغ ګڼئ انو ستاسو نه وړاندې هم ډيرو قومونو دروغ ګڼلې وه					

وَمَا	عَلَى الرَّسُوْلِ	اِلَّا	الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝
او نشته	په رسول باندې	مګر	رسول د (پيغام) صفاصفا
او د پيغمبر په ذمه صرف خپل ښکاره پيغام رسول دی			

قوله تعالی:- وَاِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ

دامام الموحدين حضرت ابراهيم عليه السلام دعوت توحيد: دامام الموحدين ابوالمرسلين خليل الله عليه السلام بيان کيږی. چه هغۀ خپل قوم ته دتوحيدالهی دعوت ورکړو. دريا کارئ نه بچ کيدواوزړۀ کښې دپرهيزګارئ قائمولو حکم ئې ورکړو. دهغۀ په نعمتونودشکراداکولودپاره ئې ورته اوفرمائيل اوددې ګټه ئې هم ورته اوښود له. چه ددنياواخرت بدئ ددوی نه لرې شی. اوورسره ئې ورته داهم اوفرمائيل چه د کومو بتانو تاسو عبادت کوئ داخوبې ضرره اوبې نفعې دی. تاسوپه خپله ددوی نومونه اوبدنونه تراشلې دی. او هغوی هم ستاسوپه شان مخلوق دې. بلکه ستاسونه زيات کمزورې دی. هغوی خو ستاسو د روزئ اختيارهم نه لری. دالله تعالی نه روزئ غواړئ. هم ددې حصې سره ايت ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝﴾ هم دی. چه مونږ يوازې ستاعبادت کوواوستانه مدد غواړو. داحصه دحضرت اسيه رضی الله عنها دعاده. ﴿رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ﴾ اې الله! زما دپاره دخپل ځان سره په جنت کښې کور جوړ کړه. چونکه دهغۀ نه سوابل څوک رزق ورکولې نه شی ددې وجې نه تاسوهم دهغۀ نه روزی غواړئ. اوکله چه دهغۀ روزی اوخورئ نودهغۀ نه علاوه دبل چا عبادت مه کوئ. دهغه د نعمتونو شکرپه ځای راوړئ. په تاسوکښې هريو د هغه طرف ته واپس کونکی دی هغه به هرعامل ته د هغه د عمل بدله ورکوی. ګورئ ماته په دروغژن وئيلوسره خوشحاليږئ مه. نظرواچوئ چه ستاسونه مخکښې کوموکسانودنبيانوسره دورغ منسوب کړې وو دهغوی څه حالت شو. يادساتئ دنبيانوکارصرف دالله تعالی پيغام رسول دی. هدايت ورکول اونه ورکول دالله تعالی په لاس کښې دی. خپل ځانونه په خپله په سعادت مندوکښې شامل کړئ په بدبختانوکښې نه. حضرت قتاده رحمه الله خوفرمانی چه په دې کښې دحضور عليه السلام نورهم تسلی کړې شوې ده. ددې مطلب تقاضاخوداده چه اولنئ خبره خوختمه شوه، دې ځائې نه واخله ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖ﴾ پوری يوازې دا عبارت بطورجمله معترضه ده. ابن جرير رحمه الله خوپه ښکاره ټکوسره هم دغه وئيلې دی، خودقران پاک دالفاظونه خوپه ظاهره دامعلوميږی چه داټول کلام دحضرت خليل الرحمان عليه السلام دی، ددوی تردقيامت دقائميدوپورې دليلونه ئې پيش کول، خکه چه ددې ټول کلام نه پس دهغوی دقوم ذکرشوې دی.

Scanned with Ca

أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ

| ایا نۀ وینی دا خلق | چی څرنګې

| .....ایا دوی نه وینی (اونه ګوری)

يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ۚ إِنَّ ذٰلِكَ

اول شروع کوی | الله | دپیداوښت (دمخلوق) | بیا دوباره پیدا کوی هغه | بیشکه دا دوباره پیدا کول

چې الله ﷻ څنګه په اول ځل مخلوق پیدا کوی | اوبیا به ئې څنګه سر دوباره پیدا کوی؟ | داکار

عَلَى اللّٰهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا

په الله باندې | اسان دی | ورته اووایه | چې اوګرزئ | په زمکه کښې | پس اوګورئ |

په الله ﷻ باندې ډیر اسان دې | (محبوبه) اووایه چې په زمکه کښې اوګرځئ | نو اوګورئ

كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللّٰهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ

چې څرنګې | اول شروع کړی ده هغه دپیداوښت | بیا به الله | پیدا کړی | پیدا کول |

چې الله ﷻ څنګه په اول ځل مخلوق پیدا کړې دې | بیا به الله ﷻ مخلوق په دویم ځل

الْآخِرَةَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ يُعَذِّبُ مَنْ

(روستنی) په دویم ځل) | بیشکه الله | په هر څیز باندې | قادر دې | عذاب ورکوی | هغه چاته

پیدا کړی | بیشکه الله ﷻ په هره څه باندې قادر دی | ..... چا ته چې اوغواړی نو عذاب ورکوی

يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَشَاءُ ۖ وَإِلَيْهِ

چې خوښه ئې شی | او رحم کوی | په هغه چا | چې خوښه ئې شی | او خاص هغه ته |

او په چا چې اوغواړی نو رحم پرې کوی | ..... اوهغه ته به تاسو ټول واپس کیږئ

تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَلَا

به تاسو واپس بوتلې کیږئ | اونۀ یئ تاسو | عاجزه کونکی (الله لره) | په زمکه کښې | اونۀ

.....اوتاسو په زمکه اوپه آسمان کښې د الله نه بچ کیدې نشئ .....

فِي السَّمَاءِ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللّٰهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾

په آسمان کښې | اونشته تاسو لره | بچ کونکې دالله نه | څوک دوست | اونۀ څوک مدد ګار |

.....اوستاسو دپاره دالله ﷻ نه سوا هیڅوک کار ساز او مددګار نشته

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللّٰهِ وَلِقَائِهِ أُولَٰئِكَ

او هغه کسان | چې انکار ئې کړې دې | دایتونو دالله نه | او دملاقات دهغه نه | دا کسان چې دی |

اوکوم خلق چې د الله ﷻ د آیتونو اود هغه دملاقات نه انکار کوی | .....داسې خلق زما

يَئِسُوا مِنْ رَحْمَتِي وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾

ناامید شوی دی | درحمت زمانه | او هم ددوئ دپاره | عذاب | دردناک دې |

درحمت نه ناامیده دی | او د دغه خلقو دپاره دردناک عذاب مقرر دې |

Scanned with Ca

قوله تعالى:-أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ

غورنه کوی چاچه دنیشت نه ورته وجودورکړوهم هغه دعبادت لائق دي: گورروچه هغوی هیڅ هم نه وو، بیا الله ﷻ پیداکړل.خودمرګ نه پس دژوندقائل نه دی.حالانکه په دې باندې دڅه دلیل ضرورت نشته. ځوک چه په اول ځل پیداکول کولې شی دهغهٔ دپاره په دویم ځل پیداکول ډیراسان دی.

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ

دالله ﷻ په قدرتنو دلائل اواثبات د قیامت:-بیاهغوی ته هدایت کوی چه تاسودزمکې په نشانوکښې غور اوکړئ،داسمانونوستوروادغرونوته اوځنګلونو ته،او نهرونو ته،او دریابونوته،اوسمندرونوته،او میووته او پټوته ته لږ شان خواوګورئ داټول نه وو،بیاالله تعالی هرڅه پیداکړل،ایاپه تاسو دالله ﷻ نخښې نخښاني ظاهرې نه دی؟تاسونه ګورئ چه دومره لوې صانع اوقدیرالله څه نه شی کولې؟ هغه خو صرف په اوشه وئیلوسره هرڅه کولې شی.هغه خپل اختیاره دی.هغهٔ ته داسبابواوسامان ضرورت نشته. هم دغه مضمون ئې په بل ځائې کښې اوفرمائیلو چه هم هغهٔ په نوی پیدائش کښې پیدا کول کوی اوهم هغه به موپه دویم ځل پیداکوی.داخودهغهٔ دپاره ډیراسان دی.بیائې اوفرمائیل چه په زمکه باندې اوګرځئ اواوګورئ چه الله تعالی په اول ځل پیدائش څنګه اوکړو،نوتاسوته به معلومه شی چه دقیامت په ورځ په دویم ځل دپیدائش کیفیت به څه وی.الله ﷻ په هرڅیزباندې قادردې.څنګه چه ئې اوفرمائیل چه مونږبه دوی ته ددنیاپه هره حصه کښې په خپله ددوی دځانونوکښې خپلې نخښې نخښاني دومره اوښایوچه په دوی باندې حق ظاهرشی.په بل

ځائې کښې ارشاددې.(أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ الخ.ایادوی بغیردڅه څیزنه پیداکړې شوې دی یادوی په خپله د خپل ځان خالق دی.هیڅ نه دی بې یقینه خلق دی.دادالله تعالی شان دې چه ځوک اوغواړی عذاب ورکړی اوپه چاچه اوغواړی رحم اوکړی.هغه حاکم دې دقبضې واله دې څه چه غواړی اوکومه اراده کوی جاری کوی ځوک دهغهٔ دحکم منلونه انکارکولې نه شی.ځوک دهغهٔ اراده بدلولې نه شی.ځوک دهغهٔ نه اخواديخواتختیدې نه شی.ځوک دهغهٔ نه سوال نه شیکولې،هغهٔ په ټولوباندې غالب دې، د چانه چه اوغواړی تپوس کولې شی ټول دهغهٔ په قبضه کښې دی اودهغهٔ ماتحت دی.دمخلوق خالق او د حکم مالك هم هغه دې.هغهٔ چه هرڅه اوکړل ټول په ټوله عدل دی.ځکه چه هم هغه مالك دې.هغهٔ دظلم نه پاك دې.په حدیث شریف کښې دی چه که الله تعالی داوووارو اسمانونووالوڼ ته او داوووارو زمکووالوڼ ته عذاب ورکړی نوبیاهم هغه ظالم نه دې(۱)عذاب اورحم ټول دهغهٔ ځیزونه دی. ټول به دقیامت په ورځ د هغهٔ طرف ته واپس کړې شی،هم دهغهٔ په وړاندې به پیش کړې شی.په زمکه والوکښې اوپه اسمان والو کښې ځوك هغهٔ ته شکست ورکولې نه شی.بلکه په ټولوباندې هغه غالبه دې.هریودهغهٔ دویرې نه ریږدی ټول دهغهٔ ددرفقیران دی.اودهرچانه زیات غنی دې.ستاسوځوك ولی اومددګاردهغهٔ نه سوایل ځوك نشته.دالله تعالی دایتونونه کفرکونکی دهغهٔ سره ملاقات نه منونکی دالله تعالی درحمت نه محروم دی .دهغوی دپاره په دنیااوپه اخرت کښې ددرداوغم نه ډك عذاب دې.

فَمَا كَانَ
پس نه وؤ
..... نو د

(۱) ابی داؤد کتاب السنة باب فی القدر:۴۶۹۹وسنده صحیح، ابن ماجه:۷۷، احمد:۵/۱۸۲، بیهقی: ۱۰/۲۰۴، ابن حبان: ۷۲۷.

جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ فَاَنْجٰىهُ

جواب دقوم دابراهيم | مګر | دا چې وئيل ئې | چې اووژئ دې | يا اوسوزوئ دې | پس بچ کړوهغه لره

ابراهيم عليه السلام دقوم دطرفنه صرف دا يو جواب وو | چې دې مړ کړئ يا ئې اوسوزوئ | مګر الله ﷻ هغه د

اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝

الله | دوور نه | بيشکه | په دې کښې | خامخا نښې دي | دپاره دهغه قوم | چې ايمان راوړي

اور نه بچ کړو | بيشکه په دې (بچ کولو) کښې دمومنانو دپاره ډيرې نښې دي

وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ

اواووئيل ابراهيم | بيشکه | نيولی دی تاسو | بې دالله نه | بتان | ذريعه دمحبت

اوابراهيم عليه السلام اووئيل چې تاسو چې د الله نه سوا | د خپلو ځانونو دپاره کوم بتان نيولي دي | نو دا

بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ

په خپل منځ کښې | په ژوند ددنيا کښې | بيا به | په ورځ دقيامت | انکار کوی |

په دنيا کښې ستاسو په خپل مينځ کښې دمينې محبت ذريعه ده | خو بيا به د قيامت په ورځ

بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۫

ځينې له تاسو | دځينو نه | او لعنت به وائي | ځينې له تاسو | په ځينو باندې |

د يوبل مخالف شئ | .....اوتاسو به په يو بل لعنتونه وايئ

وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝

او ځائې داوسيدو ستاسو | وور دي | او نشته تاسو لره | هيڅوک دمدد ګارانو نه |

اوستاسو د اوسيدو ځائې به دوزخ وی | او هيڅوک به درسره مدد کونکې نه کوی |

قوله تعالى:- فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ

دنمرود اوراوابراهيم عليه السلام :دابراهيم عليه السلام دې عقلی اونقلی دلائيلووعظ هم په هغوی باندې اثراونه کړو، او هغوی دلته هم دخپل هم هغې دزړه دسختيامظاهره اوکړه.جواب خودهغودليلونوورکولې نه شو لهذا پخپل طاقت سره ئې حق دباوهلو،اوخپل طاقت سره ئې دربنتياؤ مخ نيوې کولو،وې وئيل چه يوکنده اوکنئ اوپه هغې کښې اوربل کړئ اودې په اورکښې واچوائ،چه اوسوزی.ليکن دالله ﷻ ددوی مکر هم په دوی باندې الټاکړو.ترمودومودوپورې ئې لرګی راجمع کول،اويوه کنده ئې اوکنيسته اودهغې ګير چاپيره ئې يوديوال اوکړواوپه هغې کښې لرګوته اورورته کړو،کله چه دهغې شغلې تر اسمان اورسيدې او دومره زيات اوربل شوچه په زمکه ددې نه مخکښې دومره اوړچرته ليدې شوې نه وو،نوابراهيم ئې په کپره کښې اوترلواوپه منجنيق کښې ئې واچولواوتالئ ورکولو سره ئې په اورکښې ورګزارکړو.ليکن الله ﷻ هغه په خپل خليل باندې باغ اوبهارجوړکړو.دوی څوورځې پس دهغې نه صحيح سلامت راووتو،دااوددې په شان قربانئ وې چه دهغې په وجه دا ته د امامت منصب ورکړې شو.خپل نفس د خپل رحمان دپاره،خپل بدن دنيزان دپاره اوخپل اولاددقربانئ دپاره اوخپل مال دفيضان دپاره پيش کړو،هم دغه وجه ده چه ددنيا دټولو د ينونو واله ددوی سره محبت کوی.الله تعالى اورددوی دپاره باغ جوړکړو،په دې واقعه کښې دايمانداروډپاره دقدرت الهی ډيرې نشانې دي.

Scanned with Ca

قوله تعالی:- مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

بت پرستی او شرک دنیا کښې د کافرانو په مینځ د محبت ذریعه وی:- دوی خپل قوم ته اوفرمائیل چه کومو بتانو نه تاسومعبودان جوړکړی دی داستااتفاق د دنیاترحده پورې دي.(مودة) دزبرسره مفعوله له دي.په یو قرات کښې دپیش سره هم دي.یعنی ستاسودبت پرستی گوچه په دنیاکښې به محبت حاصل کړی خو د قیامت په ورځ به معامله ددې التاشی او د محبت په ځائې به نفرت اوداتفاق په ځائې اختلاف پیدا شی.دیوبل سره به جهگړې کوئ په یوبل به الزامونه لگوئ ،په یوبل به لعنت ورلیږئ،هره ډله به په بلې ډلې باندې لعنت ورلیږی.ټول دوستان به دشمنان جوړشی.اوپرهیزگاراونیکوکارنن هم د یوبل خیرخواه اودوستان به وی.کافران به ټول په ټوله دقیامت په ورځ ډغرې خوری اوپه اخره کښې به جهنم ته پریوځی.څوك به دومره نه وی چه ددوی څه قسمه مدداوکړې شی.په حدیث کښې دی چه الله ﷻ به ټول مخکینی اوروستنی په میدان کښې راجمع کړی.چاته پته لگی چه په دواړوطرفونوکښې د کوم طرف نه دي؟ام هانی رضی الله عنها چه دحضرت علی رضی الله عنه خورده جواب ورکړوچه الله تعالی اودهغۀ رسول ﷺ د زیات علم واله دي.بیابه یواعلان کونکې د عرش دلاندې اعلان اوکړی چه اې موحدینو! دتوحیدواله دې سراوچت اوکړی.بیابه هم دغسې اواز اوکړی بیابه په دریم ځل هم دغسې اوازاوکړی اواوبه وانی چه الله تعالی ستاسوټولې غلطئ معاف کړلې،اوس به خلق اودریږی اوپه خپلوکښې دجنگ جهگړولین دین اومطالبې به کوی.نوالله تعالی وحده لاشریك دطرف نه به اوازاوشی چه داهل توحید تاسو په خپل مینځ کښې یوبل بالکل معاف کړئ نوتاسوته به الله تعالی بدله درکړی.([1])

فَاٰمَنَ	
پس اومنو	
..... نو	
لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ	
هغه لره | لوط | او اووئیل ابراهیم | بیشکه زهٔ | هجرت کونکې یم | رب خپل ته | بیشکه هغه |	
لوط علیه السلام دهغه تصدیق اوکړو | او ابراهیم علیه السلام اووئیل چې زهٔ د خپل رب دپاره وطن پریږدم | هغه	
هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ	
هم هغه | غالب دي | حکمت والا دي | او ورکړل مونږه | هغه لره | اسحاق | او یعقوب	
غالب او صاحب دحکمتونو دي | اومونږ هغه ته ځوئې اسحاق او (نمسې) یعقوب علیهما السلام ورکړو	
وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ	
او جاری اوساتله مونږه | په اولاد دهغوئ کښې | سلسله دپیغمبرئ | او دکتاب | او ورکړومونږ هغه ته	
اود هغه په اولاد کښې مو دپیغمبرئ اودکتاب سلسله جاری اوساتله | اوهغه ته مو په	
اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝	
اجر دهغه | په دنیا کښې | او بیشکه هغه به | په اخرت کښې | خامخا دصالحانونه وی |	
دنیا کښې لوئې اجر ورکړو | او په اخرت کښې به هم په نیکانو خلقو کښې شمیر وی	

[1]) مجمع الزوائد ۲۵۸/۱۰.

قوله تعالى:- فَآمَنَ لَهُ لُوطٌ

حضرت ابراهيم عليه السلام اوحضرت لوط عليه السلام:-وئيلي شى چه حضرت لوط عليه السلام دحضرت ابراهيم عليه السلام ورارۀ وو.لوط بن هارون بن ازر.ددوى دټولوقوم نه يوخوحضرت لوط عليه السلام ايمان زاوړي وواويوه حضرت ساره رضي الله عنها چه ددوى نښځه وه،په يوروايت كښې دى چه كله ددښځه هغه ظالم بادشاه دخپلوسپاهيانوپه ذريعه خپلې خواته راوبلله،نوحضرت ابراهيم عليه السلام وئيلي ووچه ګوره ماپه خپله رشته ستاسره درورخوروئيلي ده،ته هم دغه وائيه،ځكه چه په دې وخت كښې په دنياكښې زماأوستانه علاوه بل هيڅوك مومن نشته[1] نو ممكنه ده چه ددې نه مراددأوى چه هيڅ يونښځه خاوندزمونږ نه علاوه ايماندارنشته.حضرت لوط عليه السلام په دوى باندې ايمان خوراوړلي وومګردغه وخت كښې ئې هجرت كړې وواوشام ته تلې وو.اوبيادأهل سدوم طرف ته نبى جوړكړې شوې اوليږلي شوې وو.څنګه چه بيان تيرشواومخكښې به راشى.د هجرت اراده ياخوحضرت لوط عليه السلام ظاهره كړله ځكه چه دضميرمرجع اقرب خوهم دغه ده.حضرت ابراهيم عليه السلام څنګه چه دابن عباس رضي الله عنهما اوضحاك رح بيان دې نوګويادلوط عليه السلام دايمان راوړلونه پس دوى دخپل قوم نه لاس وينځلې وواوخپله اراده ئې ظاهره كړه چه چرته لاړشم كيدښى چه دهغه ځائې خلق دالله تعالى واله جوړشى.عزت دالله تعالى اودهغۀ درسول او د مومنانو دي. دحكمت واله اقوال اوافعال تقدير شريعت دالله تعالى دى.قتاده رحمه الله فرمائى چه دوى دكوفې نه هجرت اوكړو اوملك شام طرف ته لاړل.

د قيامت د راتلو په وخت كښې به هم ټول خلق شام ته جمع كيږى:-په حديث كښې دى چه دهجرت نه پس هجرت دحضرت ابراهيم عليه السلام دهجرت ګاه طرف ته وى.دغه وخت كښې به په زمكه باندې بدترين خلق پاتې شى.كوم چه به زمكه اوتوكى.اوالله عزوجل به دهغوى نه نفرت كوى.اواوربه هغوى لره د بيزو ګانو او خنزيرانوسره زغلوى.دشپې اوورځې به هغوى سره وى اوددوى نه غورځيدونكى به خورى[2] په بل روايت كښې دى چه څوك په دوى كښې روستوپاتې شى هغوى به دااوراوخورى.اودنمرخاته نه به څه خلق زماپه امت كښې داسې راوځى چه قران به وائى خودهغوى دمرې نه به بښكته نه ځى،اودهغوى ديوې ډلې دختميدونه پس به بله ډله اودريږى.تردې پورې چه حضور صلى الله عليه وسلم دشلوځلونه زيات داسې بار بار اوفرمائيل.تردې پورې چه ددوى په اخرى ډله كښې به دجال راوځى.دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دې چه يوه زمانه خوپه مونږ هغه وه چه مونږ به ديومسلمان رورډپاره درهم اودينارهيڅ ځيزنه ګڼرلو.[3] او خپل دولت به مودخپل رورګڼرلو،بياهغه زمانه راغله چه دولت مونږ دخپل مسلمان رورنه زيات ګران معلوم شولو.مادحضور صلى الله عليه وسلم نه اوريدلې دى چه كه تاسو دغويانولكوپسې شاته اولګئ او په تجارت كښې مشغول شئ اودالله تعالى دلارې جهادپريږدئ نوالله عزوجل به ستاسوپه ځټنوكښې دذلت پټئ واچوى.چه د هغه وخت پورې به ستاسونه بيليږى نه ترڅوپورې چه تاسوواپس هغه ځائې ته راغلې نه ئې چه چرته وئ اوتوبه مونه وى كړې.بيائې هم هغه حديث بيان كړوچه پورته تيرشو،اووې فرمائيل چه زماپه امت كښې به داسې كسان وى چه قران به لولى اوبدعملئ به هم كوى.قران پاك به ددوى دتالونه نۀ كوزيږى .دهغوى علمونوچه تاسواووينئ نوتاسوبه خپل علمونوكمتراوګڼرئ .هغوى به اهل اسلام وژنى.پس كله چه داخلق ظاهرشى نوتاسودوى قتل كړئ بيابه راوځى بيائې مړۀ كړئ،بياچه ظاهر شى بيائې قتل كړئ.هغه هم خوش نصيبه دې چه دوى قتل كړى اوهغه هم خوش نصيبه دې چه چه ددوى دلاسه قتل

---

[1] صحيح بخارى كتاب حديث الانبياء باب ﴿واتخذ الله ابراهيم خليلا﴾:۳۳۵۸، صحيح مسلم: ۲۳۷۱.
[2] الطبرى: ۲۶/۱۰.
[3] ابوداؤد كتاب الجهاد باب فى سكنى الشام ۲۴۸۲ مختصرًا وهوحسن، احمد:۱۹۸/۲-۱۹۹.

Scanned with Ca

شی.کله چه به ددوی ډلې راوخی نوالله تعالی به دوی برباد کړی.بیابه راوخی بیابه ئې برباد شی.هم دغه شان حضور ﷺ دشلوځله یاددې نه زیات ځله هم دغه اوفرمائیل.(۱)

قوله تعالی:- وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

مونږ ابراهیم ﷺ ته داسحاق دنوم یوځوی ورکړې وو،اواسحاق ته مودیعقوب دنامې،ځنګه چه فرمان دې چه کله خلیل الرحمان ﷺ خپل قوم اودهغوی معبودان پریښودې وونوالله تعالی هغوی ته اسحاق ﷺ او یعقوب ﷺ ورکړې وو.اوهریوئې نبی جوړکړو.په دې کښې دااشاره هم ده چه نمسي به هم ستاپه موجودګئ کښې اوشی.اسحاق خوې وواونمسي زیاتی وو.په بل ایت کښې دی چه مونږ د ابراهیم ﷺ ښځې ته داسحاق اودهغۀ نه روستوددیعقوب ﷺ زیرې ورکړو،اووې فرمائیل چه دقوم دپریښودوپه بدله کښې الله تعالی به ستادکورنئ ته داکلې ورکړی چه ستاسترګې به ورسره یخې وی.پس ثابته شوه چه حضرت یعقوب ﷺ دحضرت اسحاق ﷺ خوې وو.هم دغه دسنت هم ثابت دی.دقران پاک په بل ایت کښې دی چه ایاتۀ هغه وخت موجودوې کله چه دحضرت یعقوب ﷺ د مرګ وخت رانزدې شو نو خپلو ځامنوته ئې اوفرمائیل چه تاسوبه زمانه پس دچاعبادت کوئ؟هغوی ورته اووئیل چه ستا او ستا د پلار د حضرت ابراهیم ﷺ،اسماعیل ﷺ،اسحاق ﷺ،دالله چه یودې اووحده لاشریك دې.دبخاری اومسلم په حدیث کښې دی چه کریم بن کریم بن کریم بن کریم یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم دې.علیهم الصلواة والسلام.(۲)

دیوې شبهې ازاله:- دابن عباس ﷺ نه چه کوم روایت دې چه اسحاق ﷺ اویعقوب ﷺ دحضرت ابراهیم ﷺ ځامن وو،ددې نه مراددځوې ځوی ته ځوې وئیل دی.دانه چه صلبی ځامن دواړه وو.ابن عباس ﷺ خو پریږده چه یوادنی کس هم داسې غلطې نه شی کولې.مونږ په خپل اولادکښې کتاب اونبوت کیښودو، دخلیل خطاب هغۀ ته ملاوشو،امام هغۀ ته اووئیلې شواودهغۀ نه پس دهغۀ په نسل کښې نبوت او حکمت پاتې شو.دبنی اسرائیلوټول نبیان دحضرت یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم دنسل نه دی.دحضرت عیسی ﷺ پورې خوداسلسله هم دغسې روانه وه،دبنواسرائیلودې اخری پیغمبرخپل امت ته صفااووئیل چه زۀ تاسوته د نبی عربی قریشی،هاشمی خاتم الرسل سیداولادادم زیرې درکوم.کوم چه الله تعالی خوښ کړې دې.حضور ﷺ دحضرت اسماعیل ﷺ دنسل نه وو،دحضرت اسماعیل ﷺ په نسل دحضور ﷺ نه علاوه بل څوك نبی رانغې،علیه افضل الصلواة والتسلیم.مونږ هغوی ته ددنیاثواب هم ورکړواوداخرت نیکئ موهم ورکړې.په دنیاکښې فراخه رزق،پاکه اوښکلې بی بی،اوذکرحسن موورکړو،اودټولې دنیاپه زړونوکښې موستامینه واچوله،باوجوددې چه دخپل اطاعت توفیق موورخ په ورځ زیات درکړو، دکاملې فرمانبرداریئ دتوفیق سره سره ددنیاټولې ښګیړې مودرکړلې،اوپه اخرت کښې موپه صالحانوکښې اوساتلې،ځنګه چه فرمان دې،ابراهیم ﷺ دفرمانبردارودډلې نه وو،موحدوواود مشرکانو نه وو،اوپه اخرت کښې دښوخلقوملګرې شو.

وَلُوْطًا	اِذْ	قَالَ	لِقَوْمِهٖٓ	اِنَّكُمْ	لَتَاْتُوْنَ	الْفَاحِشَةَ
اولیږومونږ لوط اکله چې اووئیل هغه اقوم خپل ته اېښکه تاسو اخامخا ورځئ اکاردبې حیایئ ته						
او لوط موپیغمبر کړو څه وخت چې هغه خپل قوم ته اووئیل آیا تاسو داسې د بې حیایئ کار کوئ						

(۱) احمد:۲/۸٤ج ٥٥٦٢.

(۲) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء ﴿ام کنتم شهداء.....﴾:۳۳۸۲.

مَا سَبَقَكُمْ	بِهَا	مِنْ أَحَدٍ	مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝
چې نه دې رومبې شوې ستاسو نه	په کولو ددې کار کښې	يو کس (هيڅوک)	دخلقو نه
چې ستاسو نه وړاندې (په ټوله دنيا کښې) بل هيڅ چا نه دې کړې ؟			

أَئِنَّكُمْ	لَتَأْتُوْنَ	الرِّجَالَ	وَتَقْطَعُوْنَ	السَّبِيْلَ ۙ
آيا تاسو چې يئ	خامخا ورځې	نارينوته (په شهوت سره)	او شو کوئ	لار
تاسو د نارينواؤ سره بد فعلى (لواطت) کوئ	اولاړې شوکوئ	او په ډک مجلس کښې نا مناسب		

وَتَأْتُوْنَ	فِيْ نَادِيْكُمُ	الْمُنْكَرَ ؕ	فَمَا كَانَ
او راځئ تاسو (يعنى کوئ تاسو)	په مجلسونو خپلو کښې	بدکارونه	پس نه وُ
کارونه کوئ	.....نود هغه د قوم جواب بس صرف دا وو	چې خه	

جَوَابَ قَوْمِهٖٓ	اِلَّآ	اَنْ قَالُوا	ائْتِنَا	بِعَذَابِ اللّٰهِ	اِنْ كُنْتَ
جواب دقوم دهغه	مګر	دا چې ووې وئيل	راوله په مونږ باندې	عذاب دالله	که ئې ته
(لاړ شه) ته د الله ﷻ عذاب راوله (هغه عذاب د کوم چې ته مونږ سره وعده کوې)					که چرې ته

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝	قَالَ	رَبِّ	انْصُرْنِيْ	عَلَى الْقَوْمِ
دربښتينو خلقو نه	اووئيل لوط	اے ربه زما	امداد اوکړه زما	په قوم
ربښتونئ يئ	.....لوط ﷺ دعا اوکړه چې ائې زما ربه ته ددې فسادیانو په مقابله کښې			

الْمُفْسِدِيْنَ ۝ ع
مفسدانو باندې
زما مدد اوکړه

قوله تعالى:- وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ

دلوطيانومشهوربدعادات: دلوطيانودمشهوربدعادتونو نه به لوط ﷺ هغوى منع کول.چه د ستاسو په شان بدعادت خوستاسو نه مخکښې چاپيژندوهم نه.کفراوتکذيب اودرسولانومخالفت خو خير نوروخلقو هم کولو خودسرونه خپل حاجت پوره کول خوچاهم نه ووکړې. دويم بدعادت په هغوى کښې داوو،چه لارې به ئې شوکولې،ډاکې به ئې اچولې،قتل اوفسادبه ئې کولو،مالونه به ئې لوټ کول،په مجلسونوکښې به ئې على الاعلان بدې خبرې اوخراب حرکتونه کول.څوک چانه منع کول،تردې پورې چه دبعضوقول دې چه هغوى به لواطت هم على الاعلان کولو.ګويا دسوسائټئ يوه مشغله داهم وه چه هوابه ئې خارج کړه نوخندل به ئې(۱) ګډان به ئې جنګول ، چرګان به ئې جنګول،اوبدترين بدئ به ئې کولې،اودهرچاپه وړاندې به ئې غلط کارونه بښه په خوند خوند کول.په يوحديث کښې دى چه څوک به په لاره تلل نوپه هغوى پسې به ئې اوازونه کول،په کانړوبه ئې ويشتل کول(۲) اوشپيلى به ئې وهل، کونترې به ئې ساتلې،بربنډيدل به،کفر،دشمنى،سرکشى، ضد اوپه خپله خبره ټينګيدل ئې تردې حدپورې زيات

---

(۱) الطبرى: ۳۰/۳۰.

(۲) ترمذى كتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة العنكبوت: ۳۱۹۰،احمد: ۲٤۱/٦،حاكم: ٤۰۹/۲.

Scanned with Ca

شوې ووچه دنبی په پوهولوباندې نې اوونيل چه څه نصيحت پريږده ته چه مونږ دکوموعذابونونه ويروې،هغه راوله،نومونږ به هم ستاربښتياووينو،کله چه حضرت لوط عاجزه شونوداللہ تعالی په وړاندې ئې لاسونه خواره کړل چه په دې مفسدانوباندې ماته غلبه راکړه اوزمامدداوکړه.

وَلَمَّا	جَآءَتْ	رُسُلُنَآ	اِبْرٰهِيْمَ	بِالْبُشْرٰى	لا
او کله چې	راغلل	استاذی زمونږه	ابراهيم ته	دزيری سره	
اوڅه وخت چې زمونږ فرښتو ابراهيم ته د(ځوئې پيداکيدو) زيرې ورکونکی راغلې					
قَالُوْٓا	اِنَّا	مُهْلِكُوْٓا	اَهْلِ	هٰذِهِ الْقَرْيَةِ	اِنَّ	اَهْلَهَا
نو اووئيل هغوئ	مونږه هلاکونکی يو	خلق	ددې	کلی	بيشکه چې	خلق ددې کلی
نو دائې هم ورته اووئيل چې مونږ خو د دغې کلی تباه کونکی يو	ځکه چې دغه خلق ډير					
كَانُوْا	ظٰلِمِيْنَ	قَالَ	اِنَّ	فِيْهَا	لُوْطًا	قَالُوْا
دی	ظالمان	اووئيل ابراهيم	بيشکه	په هغه کلی کښی	لوط دې	اووئيل هغوئ
بدعمله دی	ابراهيم ورته اووئيل هلته خو لوط اوسيږی					.....هغوئ اووئيل
نَحْنُ	اَعْلَمُ	بِمَنْ	فِيْهَا	لَنُنَجِّيَنَّهٗ		
مونږ ته ښه علم دې	په هغه چا	چې په هغې کښی دی	خامخا به بچ کړو مونږ هغه لره			
په هغې کښې چې څوک دی هغه مونږ ته ښه معلوم دی				.....مونږ به لوط او د		
وَاَهْلَهٗٓ	اِلَّا امْرَاَتَهٗ	كَانَتْ	مِنَ الْغٰبِرِيْنَ	وَلَمَّآ		
او(ټول)کورواله دهغه لره	سوا دښځې دهغه نه	چې ده هغه	دروستو پاتې کيدونکونه	او کله چې		
د هغه دکور خلق ضرور بچ کوو	خوصرف ښځه به ئې په پاتې کيدونکو کښې وی			اوهرکله		
اَنْ جَآءَتْ	رُسُلُنَا	لُوْطًا	سِيْٓءَ	بِهِمْ	وَضَاقَ	
راغلل	استاذی زمونږه	لوط ته	نو سخت پريشانه شو	په ورتلو دهغوئ	او تنګ شو	
چې لوط ته زمونږ فرښتې راغلې	..... نوهغه پرې غمژن شو			او(دهغوی په راتلونې)		
بِهِمْ	ذَرْعًا	وَّقَالُوْا	لَا تَخَفْ	وَلَا تَحْزَنْ	اِنَّا	
په هغوئ باندې	په لحاظ دزړۀ سره	اووئيل هغوئ	مۀ يريږه	اومۀ غمژن کيږه	بيشکه مونږه	
زړه تنګ شو	.....او فرښتو اووئيل چې ته ويريږه مه			او غم مه کوه	.....مونږ	
مُنَجُّوْكَ	وَاَهْلَكَ	اِلَّا امْرَاَتَكَ	كَانَتْ	مِنَ الْغٰبِرِيْنَ		
بچ کونکی يو تالره	او کورواله ستا لره	سوا دښځې ستانه	ده هغه	دروستو پاتې کيدونکو نه		
به تا اوستا دکور خلق ضرور بچ کړو	اخو صرف ستا ښځه چې د روستو پاتې کيدونکو نه به وی					
اِنَّا	مُنْزِلُوْنَ	عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ	رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ			
بيشکه مونږه	نازلونکی يو	په خلقو ددې کلی باندې	عذاب د اسمان نه			
مونږ ددې کلی په خلقو باندې د پورته نه عذاب راکوزونکی يو	اودا مونږ دوی سره څه ظلم نه کووبلکه					

بِمَا	كَانُوْا	يَفْسُقُوْنَ ﴿۳۴﴾	وَلَقَدْ تَّرَكْنَا	مِنْهَآ
په سبب دهغې	چې دی دوئ	چې فسق (بدکاری) کوی	او پریښودی ده مونږ	دهغه کلی نه
په دې وجې چې دوی بدعملی کوی	.....		اومونږ د دغې تباه شوی کلی څه ښکاره	

اٰيَةًۢ	بَيِّنَةً	لِّقَوْمٍ	يَّعْقِلُوْنَ ﴿۳۵﴾
یوه نښه ښکاره	دپاره دهغه خلقو	چې دعقل نه کار اخلی	
نخښې دعقل مندو دپاره تراوسه پورې پریخودی دی			

قوله تعالی:- وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى

دلوط ﷺ دقوم تباهی اوبربادی: کله چه دلوط ﷺ اونه منلې شوه نو هغوی دالله تعالی مدد اوغوښتو، چه د هغې باندې فرښتې راولیږلې شوې.دانسان په شکل کښې اول دافرښتې دمیلمنوپه شکل کښې اول دحضرت ابراهیم ﷺ کورته راغلې.دوی دمیلمستیا سامان تیارکړو،اودهغوی په وړاندې نې کیښودو، کله چه نې اوکتل چه هغوی دې طرف ته څه رغبت نه کوی نوپه زړۀ کښې اوویریدو،نوفرښتوددۀ زړۀ خوشحالول شروع کړۀ اودۀ ته نې خبرورکړوچه ددۀ کره به یونیک بچې پیداکیږی ساره ﷺ هم هلته موجود وه،چه دانې واوریدل نوحیرانه شوه ،څنګه چه دسوره هود او د سورۀ حجرپه تفسیرکښې تیرشوې دی. اوس ورته فرښتوخپله اصلی اراده ظاهره کړه،چه دهغې په اوریدوسره دخلیل الرحمان خیال راغې چه کۀ دې خلقوته لږ شان نورهم مهلت ورکړې شی نوکیدې شی چه دوی په نیغه لاره راشی.ددې وجې نه نې ورته اوفرمائیل چه هلته خولوط نبی (ﷺ) شته،فرښتوورته جواب ورکړوچه مونږدهغوی نه غافله نه یومونږ ته حکم شوې دی چه هغه اودهغۀ خاندان واله بچ کړو.اوبې شکه دهغۀ ښځه به هلاکیږی.ځکه چه هغه دخپل قوم په کفرکښې دهغوی ملګرتیاکوی.دلته نه چه رخصت شودبلوغ ته دنزدې هلکانوپه صورت کښې لوط ﷺ ته ورغلل.ددوی په لیدوسره لوط ﷺ په پریشانئ کښې پریوتو چه کۀ دخان سره ویساروم نوددوی نه په خبروسره به کافران په منډومنډوراشی اومابه هم تنګ کړی.اودوی به هم پریشانه کړی.اوکه دخان سره نې نه ویساروم نودوی به هغوی ته لاسوکښې ورشی،دې دخپل قوم د عادت نه خبروو،ددې وجې نه خفه اوغمژن شو.خوفرښتوددۀ داخفګان لرې کړو،چه ویریږه مۀ،اومه خفه کیږه مونږ خوالله ﷻ فرښتې یو.ددوی دبربادئ دپاره راغلې یوتۀ اوستاخاندان ستادښځې نه بغیر خوبه بچ شئ باقی په دې ټولوبه اسمانی عذاب راځی.اودوی ته به ددوی دبدکارئ نتیجه اوښودلې شی.بیاحضرت جبرائیل ﷺ دغه کلی په خپلووزروکښې اوچت کړل.اوداسمان پورې نې اوچت کړل، او د هغۀ ځائې نه نې الټا کړل، او بیاپه هغوی باندې نې دهغوی دنامو کانړی راوورول.اوکوم الله تعالی عذاب چه هغوی لرې ګنړلو،هغه ډیر نزدې راووتو،اوددوی دکلوپه خائې کښې دترخواوبدبوداره اوبو یو ډنډپاتې شو.چه دخلقودپاره دعبرت حاصلولوپه زریعه جوړه شوه،اوعقل مندخلق چه داظاهری نشانات اوویني اوپه داسې بدې طریقې سره هلاکت اوویني نودالله ﷻ په نافرمانوباندې زړه ورتیانه کوی.دعرب په سفرکښې شپه ورځ دانظاره دهغوی په وړاندې وه

وَاِلٰى مَدْيَنَ	اَخَاهُمْ
او مدین ته (اولیږو مونږه)	رور دهغوئ
اودمدین خلقو ته مود هغوئ (قومی) رور	

Scanned with Ca

شُعَيْبًا	فَقَالَ	يٰقَوْمِ	اعْبُدُوا اللّٰهَ	وَارْجُوا	الْيَوْمَ
شعیب	پس اوونیل هغه	اے زما قومه	بندګی کوئ دالله	او امید لرئ	دورځې
شعیب لیږلې وو	نوهغه ورته اوونیل چې ائې زما قومه تاسو دالله ﷻ عبادت کوئ	او داخرت			
الْاٰخِرَ	وَلَا تَعْثَوْا	فِي الْاَرْضِ	مُفْسِدِيْنَ ۝	فَكَذَّبُوْهُ	
اخری	اومهٔ جوړیږئ	په زمکه کښې	فسادکونکی	پس هغوئ دروغ اوګڼړو هغه	
د ورځې امید ساتئ	او په ملک کښې فساد مه کوئ	نوهغوئ شعیب ﷺ دروغژن اوګڼړلو			
فَاَخَذَتْهُمُ	الرَّجْفَةُ	فَاَصْبَحُوْا	فِيْ دَارِهِمْ	جٰثِمِيْنَ ۝	
پس راونیول هغوئ	یوې سختې زلزلې	پس شو هغوئ	په کور خپل کښې	مړه پرمخې پراتهٔ	
نوزلزلې راګیر کړل	.....اوهغوئ سحر په خپلو کورونو کښې پرمخې پراته وو				

قوله تعالیٰ:- وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا

د اهل مدین حال:- دالله بنده اودهغهٔ ربښتونې رسول شعیب ﷺ په مدین کښې خپل قوم ته وعظ اوکړو، هغوی ته ئې دالله وحده لاشریکه له دعبادت حکم ورکړو. هغوی ئې دالله تعالی د عذابونو اوسزاګانو نه اوویرول. هغوی ته ئې دقیامت دراتلویقین ورکړو، چه دهغې ورځې دپاره تیارې اوکړئ. اودهغې ورځې خیال اوساتئ اوپه خلقو باندې ظلم زیاتې مهٔ کوئ. دالله تعالی په زمکه باندې فسادمهٔ کوئ او د بدو نه ځان ساتئ. په هغوی کښې یوعیب داهم ووچه په ناپ تول کښې به ئې کمې کولو. اودخلقو حقونه به وهل اوډاکې به ئې اچولې. لاړې به ئې بندولې. اوورسره به دالله تعالی اودهغهٔ نه رسول نه انکار کولو. هغوی دخپل پیغمبرنصیحتونوته غوږنه کیښودوبلکه هغهٔ ته ئې دروغژن اووئیل. ددې په وجه په هغوی باندې دالله تعالی عذاب راغې، سخته زلزله راغله اوورسره دومره تیزاوازهم راغې چه دهغوی زړونه والوتل. اوروحونه تري اووتل. اوپه لږساعت کښې هرڅه ختم شو. ددوی پوره قیصه په سوره اعراف او په سوره شعراء کښې تیره شوې ده.

وَعَادًا	وَّثَمُوْدَ	وَقَدْ تَّبَيَّنَ	لَكُمْ	
او عادیان	او ثمودیان (مونږ هلاک کړل)	او ښکاره شوې دي	تاسو ته (هلاکت دهغوئ)	
اوعادیان اوثمودیان مو هلاک کړل	اود هغوی تباهی تاسو ته د هغوی د کورنونو نه ښکاره ده			
مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ ۫	وَزَيَّنَ	لَهُمُ	الشَّيْطٰنُ	اَعْمَالَهُمْ
دکورونو دهغو نه	او ښائیسته ښکاره کړل هغوئ ته		شیطان	عملونه دهغوئ
(چې تش ګنډرات پراته دی)	اوشیطان هغوی ته د هغوی بد عملونه ښائسته کړی وو			
فَصَدَّهُمْ	عَنِ السَّبِيْلِ	وَكَانُوْا	مُسْتَبْصِرِيْنَ ۝	وَقَارُوْنَ
پس منع ئې کړل هغوئ	ادنیغې لارې نه	اوؤ هغوئ	ښه نظر والا (عقل فکر والا)	او قارون
نوهغوئ ئې د نیغې لارې نه منع کړی وو	حالانکه چې هغوئ ډیر هوښیاران وو			.....او قارون
وَفِرْعَوْنَ	وَهَامٰنَ ۫	وَلَقَدْ جَآءَهُمْ	مُّوْسٰى	بِالْبَيِّنٰتِ
او فرعون	او هامان مونږ هلاک کړل	او راغلې وو هغوئ ته	موسی	دنښو ښکارو سره
او فرعون اوهامان مو هم هلاک کړی وو	او هغوئ ته موسی ﷺ په ښکاره نښو سره راغلې وو			

Scanned with Ca

فَاسْتَكْبَرُوْا	فِي الْاَرْضِ	وَمَا كَانُوْا	سٰبِقِيْنَ ۚ ﴿۳۹﴾
پس تکبر اوکړو هغوئ	په زمکه کښې	حال داچې نۀ وو هغوئ	وړاند وتونکی (زمونږنه)
خوهغوئ په زمکه (د مصر) کښې تکبر اوکړو		اوهغوئ زمونږ د عذاب نه بچ نشو	

فَكُلًّا	اَخَذْنَا	بِذَنْۢبِهٖ ۚ	فَمِنْهُمْ	مَّنْ	اَرْسَلْنَا
پس هریو	راونیوو مونږه	په ګناه دهغه سره	پس ځینې دهغوئ نه	هغه څوک دی	چې اولیږله مونږه
نو مونږ یول د هغوئ دګناهونو په وجه اونیول		نو په بعضو باندې مو (په کښې)			

عَلَيْهِ	حَاصِبًا ۚ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	اَخَذَتْهُ
په هغه باندې	هوا کانړی ورونکی	او ځینې دهغوئ نه	هغه څوک دی	چې اونیوو هغه لره
کانړی اورول		او بعضې په کښې یوې چغې راونیول		

الصَّيْحَةُ ۚ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	خَسَفْنَا	بِهِ	الْاَرْضَ ۚ
یوې سختې چغې	او ځینې دهغوئ نه	هغه څوک دی	چې ننښسته مونږه	هغه	په زمکه
		اوبعضې مو په کښې په زمکه ورخ کړل			

وَمِنْهُمْ	مَّنْ	اَغْرَقْنَا ۚ	وَمَا كَانَ اللّٰهُ
او ځینې دهغوئ نه	هغه څوک دی	چې غرق (ډوب) کړل مونږه	اونه وو الله
اوبعضې مو په کښې غرق کړل		او الله ﷻ په هغوئ ظلم نه وو	

لِيَظْلِمَهُمْ	وَلٰكِنْ كَانُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۰﴾
چې ظلم ئې کړې دې په هغوئ باندې	ولیکن وو هغوئ	په خانونو خپلو باندې	چې ظلم ئې کولو
کړې		بلکه هغوئ پخپله په خانونو ظلم کړې دې	

قوله تعالیٰ:- وَعَادًا وَّثَمُوْدَ

عاداوثمود قارون،فرعون اوهامان هم فنا شو: عادیان دهود علیه السلام قوم وو.په احقاف کښې اوسیدل، چه دیمن په بنارونو کښې دموت سره نزدې دې.ثمودیان دصالح علیه السلام قوم وو.دوی په حجرکښې اوسیدل.چه دوادی القری سره نزدې ده.دعربوپه لاره کښې ددوی کلې راتلو.کوم چه هغوی ښه پیژندلو.قارون یومالدارکس وو.چه دهغۀ دډکوخزانوچابیانې به یوې ډلې ګرځولې.فرعون دمصربادشاه وو.اوهامان د هغۀ وزیر اعظم وو.هم په دغه زمانه کښې حضرت موسی کلیم الله نبی کړې شواوهغۀ طرف ته تلې وو.دا دواړه قبطی کافروو.کله چه ددوی سرکشی دحدنه تیره شوه دالله تعالی دتوحیدنه منکر شو او رسولانوته ئې تکلیفونه ورکړل اودهغوی خبره ئې اونه منله،

قوله تعالیٰ:- فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ

په دوئ مختلف عذابونه راغلل:- نوالله تعالی دوی په قسماقسم عذابونوسره هلاک کړل.په عادیانوئې هوا ګانې راولیږلې،هغوی په خپل طاقت اوقوت باندې ډیرنازیدل،څوک ئې په خپله مقابله هیڅ نه ګنړل، او هغوی ئې هواراولیږله چه ډیره زیاته تیزه وه چه دزمکې کانړی ئې دځان سره اوچت کړل اوپه هغوی باندې ئې اوورول .اوپه اخره کښې ئې زورتردې حده پورې اورسیدوچه دوی به دځان سره اوچت کړل او اسمان پورې به یې اوچت کړل اوبیابه ئې راغوزارکړل.سربښکته به راګوزاریدل اوسربه تړې بیل شو.او

داسي به کيدل لکه دکجهوري اوني وی اوتنی ئې بيلې پرتې وی.اوخانګې ئې جداپرتې وی.په ثمود يانوباندې چه کله دالله ﷻحجت پوره شواودلائل ورکړې شواودهغوې دغوښتنې مطابق چه کله د کانړی دهغوی په وړاندې اوښه راووته خوبياهم هغوی ته ايمان نصيب نه شوبلکه په سرکشئ کښې نور هم زياتيدل،دالله تعالی نبی حضرت صالح عليه السلام ته ئې دهمکئ ورکولې اوهغۀ به ئې ويرولو،اودايمان والو ته ئې اووئيل چه زمونږ دښمنانه اووخئ کنی مونږ به تاسوسنګسارکړو.دوی په يوې چغې سره پاره پاره کړې شو.زړونه ئې دويرې نه راووتل اودټولوروحونه والوتل.قارون سرکشی اوتکبراوکړو،دالله ﷻ نافرمانئ کولوسره سره ئې په زمکه کښې فساد جوړ کړو اوپه تکبرسره به ګرځيدواوخپل خان ته ئې څه وئيل اودډيرپه غرورکښې شونوالله تعالی هغه سره د خپلومانړوپه زمکه کښې خښ کړواوتراوسه پورې لاخښيږی.فرعون هامان اودهغۀ ملګری دسحرپه وخت کښې په درياب کښې ډوب کړل.په هغوی کښې يو هم بچ پاتې نه شو.چه دهغوی نوم خوئې چرته اخستې.

قوله تعالی:- وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

الله تعالی چه داهرڅه اوکړل په دوی هيڅ ظلم نه ووبلکه ددوی دظلم بدله وه.ددوی د بدعملو نتيجه وه. د دوی دکړوسزاوه،دابيان دلته بطورعبرت دې چه دنه منونکی امتونوذکراوشو،اوبيا په هغوی هر يوه لره په عذاب سره دهلاکولوذکراوشو.چاوئيلي دی چه دټولونه مخکښې په چاچه د کانړو ورولوذکردې د هغوی نه مرادلوطيان دی.اودوبيدونکې قوم دنوح عليه السلام وو،خوداقول ټيک نه دې دابن عباس نه داهم روايت دې خوپه سند کښې ئې انقطاع ده.ددې دواړوقومونودهلاکت ذکرهم په دې سورت کښې په تفصيل سره بيان شوبيادډيرې فاصلې نه پس دابيان اوشو.دقتاده نه داهم روايت دې چه دکانړوياران په چااوکړې شودهغوی نه مرادلوطيان دی.اوڅوک چه په چغې سره هلاک کړې شودهغې نه مراد د شعيب عليه السلام قوم دې.خوداقول هم ددې ايتونونه ډيرلرې دې.والله اعلم.

مَثَلُ الَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	اَوْلِيَآءَ	كَمَثَلِ	الْعَنْكَبُوْتِ ۚ	
مثال داهغه خلقو	چې نيولی ئې دی	بې دالله نه	دوستان	پشان دمثال	دجولا دې	
کومو خلقو چې الله ﷻ پريخودې دې	اونور معبودان ئې جوړ کړی دی	د هغوئ مثال دجولاګی دې				
اِتَّخَذَتْ	بَيْتًا ؕ	وَاِنَّ	اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ	لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ		
چې جوړوی	يو کور	او بيشکه	ډير کمزوری دکورونو نه	خامخا کور دجولا دې		
چې هغه خان دپاره يوه جاله جوړه کړی	اوپه کورونو کښې کمزوری کور د جولاګی کور دې					
لَوْ كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ ۝	اِنَّ اللّٰهَ	يَعْلَمُ	مَا	يَدْعُوْنَ	
کاش چې وې دوئ	چې پوهيدلې	بيشکه الله	ښۀ پيژنی	هغه	چې دوئ ورته اواز کوی	
کاش! چې هغوئ په دې خبره پوهيدلې چې بيشکه الله ﷻ ته هغه ټول څيزونه معلوم دی						
مِنْ دُوْنِهٖ	مِنْ شَيْءٍ ؕ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ ۝	وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ	
بې دهغه نه	څه څيز	او هغه	غالب دی	او دحکمت خاوند دی	او دا مثالونه	
چې دوئ ئې دالله ﷻ نه بغير بلنه کوی	اوهغه دقدرت او د حکمتونو خاوند دی	اودا هغه مثالونه دی				
نَضْرِبُهَا	لِلنَّاسِ ۚ	وَمَا يَعْقِلُهَآ	اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ۝			
بيانوؤ مونږه	دپاره دخلقو	اونۀ پوهيږی په دې باندې	مګر عالمان خلق			
چې مونږ ئې خلقو ته بيانوؤ	اوپه دې باندې هغه خلق پوهيږی	چې دپوهې خاوندان وی				

Scanned with Ca

قوله تعالى:- مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

په شرک باندې یوښه مثال: کوم کسان چه دالله ﷻ رب العالمین نه علاوه دنوروعبادت اوبندګی کوی د هغوی دکمزورئ اوبې علمئ ذکرکیږی.اودهغوی نه دمدداوپه رزق کښې کۀ سختی راشی نودهغوی نه دمددطمع لری.ددوی مثال داسې دې لکه چه یوجولاګې په خپله جاله کښې دباران اوګرمئ یخنئ نه پناه اخستل غواړی.که دوی ته پته وې نوخالق به ئې نه پریښودې اودمخلوق نه به ئې څه طمع نه کولۀ پس ددوی حال دایمانداررودحال نه بالکل التیادې.هغوی یوه مضبوطه کړه نیولې ده اودوی د جولاګی په جاله کښې خپل سرونه پټ کړی دی.دهغۀ زړۀ دالله ﷻ طرف ته اووجودئې په نیکو عملونو کښې مشغول دې.اوددۀ زړه دمخلوق طرف ته اوددۀ بدن دهغۀ دعبادت طرف ته ښکته شوې دې.

قوله تعالى:- اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

تخویف ورګوی مشرګانو ته:- یااالله ﷻ مشرکان ویروی چه هغه ددوی دشرک نه او ددرغو د معبودانو نه ښه خبردې.دوی ته به ددوی دشرارت خوندواوځکوی.چه دوی ئې یاداوساتی.دوی ته په مهلت ورکولو کښې هم دهغۀ مصلحت او حکمت دې.نه داچه هغوی دعلیم الله ﷻ بې خبره وی.مونږ په مثالونو سره هم مسائیلوباندې دوی پوهه کړل،خوددوی دسوچ پوهې ماده اوپه دې کښې دغوراو فکر کولو توفیق صرف باعمله عالمانوته وی.چه په خپل علم باندې پوره دی.

قوله تعالى:- وَمَا يَعْقِلُهَآ

په مثالونو پوهیدل د علم دلیل دې:- ددې ایت نه ثابته شوه چه دالله تعالی بیان کړې شوې مثالونو باندې پوهیدل درښتونی علم دلیل دې.حضرت عمروبن عاص ﷺفرمائی چه زرمثالونه درسول الله ﷺنه زده کړی دی([1])ددې نه دهغوی علمیت اوفضیلت ظاهردې. حضرت عمروبن مره ﷺفرمائی چه دالله تعالی د کلام کوم ایت زماپه تلاوت کښې راشی اودهغې تفصیلی معنی زماپه پوهه کښې رانشی نو زما زړۀ خوږیږی اوماته سخت تکلیف وی.اوماسره ویره وی چه چرته دالله تعالی په نږدزماشمیره په جاهلانو کښې خونه ده شوې،ځکه چه دالله تعالی فرمان دادې چه مونږ دخلقوپه وړاندې مثالونه پیش کوو خو د عالمانو نه علاوه په هغې نورنه پوهیږی.

خَلَقَ اللّٰهُ					
پیدا کړی دی الله					
چې دپوهې خاوندان وی	الله ﷻ				
السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	بِالْحَقِّ ؕ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً	لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٤﴾
اسمانونه	اوزمکه	په حقه سره	بیشکه	په دې کښې یوه نښه ده	دپاره دمومنانو
اسمانونه اوزمکه ډیر په مناسبه طریقه پیدا کړی دی		او په دې کښې مومنانو دپاره غټ دلیل دې			

قوله تعالى:- خَلَقَ اللّٰهُ

د خالق حقیقی ذکر:- دالله تعالی دډیرلوی قدرت ذکرکیږی.چه هم هغه داسمانونواوزمکوخالق دې.هغۀ دا د لوبوتوقواوپه طوریابیکاره اوفضول پیدا کړې نه دی.بلکه ځکه ئې پیدا کړی دی چه دلته خلق میشته کړی اوبیادهغوی نیکئ بدئ اوګوری اودقیامت په ورځ دهغوی داعمالومطابق هغوی ته جزا او سزا ورکړی.بدانوته دهغوی اوسیدل اوکړی دبدعملونوپه وجه سزااونیک عملوته په نیکوباندې بهترینه بدله ورکړی.

---

[1]) الطبری: ٤/٢٠٣، مجمع الزوائد: ٨/٢٦٤.

Scanned with Ca

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ط
اولوله تهٔ	هغه	چې وحی کیږی	تاته	دکتاب نه	او قائیموه	مونځ	
(اې نبی) کوم کتاب چې تاته دوحی په ذریعه درکړې شوی دی	هغه لوله او مونځ پابندئ سره کوه
اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ط وَلَذِكْرُ اللّٰهِ
بیشکه چې مونځ	منع کوی سړی	دبې حیایئ نه	اودخرابو (ناروا) کارونونه	اوخامخا ذکر دالله
بیشکه مونځ د خرابو او بې حیائی دکارونو نه منع کوی	اودالله ﷻ یادول ډیره لویه خبره ده
اَكْبَرُ ط وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ۝
(ددې نه هم) لوئ دې	او الله	پوهیږی	په هغه	چې تاسو ئې کوئ
.....اوالله ﷻ ستاسو په کارونو پوهه دې

قوله تعالی:: اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ

مونځ دبې حیایئ نه منع کول کوی:- الله تبارك وتعالی خپل رسول الله ﷺ اوایماندارانوته حکم ورکړی چه هغوی دې دقران کریم تلاوت کوی اوادې نوروته هم اوروی.اومونځ دې په پابندئ سره اداکوی.مونځ انسان خرابوکارونواونالائقه حرکتونونه منع کوی. د نبی کریم ﷺ فرمان دې.چه کوم مونځ ګزارلره خپل مونځ دګناهونونه اوبدوکارونه نه منع نه کړی هغه دالله تعالی نه ډیرلرې شی. په ابن ابی حاتم کښې دی چه کله درسول الله ﷺ نه ددې ایت دتفسیرپه باره تپوس اوکړی شونوحضور ﷺ اوفرمائیل چه څوك مونځ دخرابوکارونونه منع نه کړی نوپوهه شه چه ددهٔ مونځ دالله تعالی په دربارکښې قبول نه شو. په بل روایت کښې دی چه هغه به دالله تعالی نه ډیرلرې لاړشی. په یوموقوف روایت کښې دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه روایت دې چه کوم مونځ دښوکارونووالله اودبدوکارونونه دمنع کولووالله نه وی پوهه شه چه دهغهٔ مونځ هغه دالله تعالی نه لری کوی.رسول الله ﷺ فرمائی چه څوك دمونځ خبره نه منی دهغهٔ مونځ نه دې.مونځ دبې حیایئ اوفضول کارونونه دې منع کوی،ددې اطاعت دادې چه ددې فضول کارونونه مونځ ګزارمنع شی.حضرت شعیب ﷺ ته چه کله ددهٔ قوم اووئیل چه اې شعیب ﷺ !ایاتاته ستامونځ حکم درکوی؟نوحضرت سفیان رح ددې په تفسیرکښې اوفرمائیل چه اوپه الله تعالی مې دې قسم وی چه مونځ حکم ورکوی اومنع کول هم کوی.حضرت عبدالله ﷺ ته چاووئیل چه فلانې کس ډیراوډمونځ کوی ،نودوی ورته اوفرمائیل چه مونځ هغه کس ته نفع ورکوی چه څوك ددهٔ خبره اومنی.زماپه تحقیق چه پورته کوم مرفوع حدیث بیان شوددې هم موقوف کیدل زیات صحیح دی.والله اعلم. په بزارکښې دی چه حضور ﷺ ته چاووئیل چه حضورافلانی کس مونځ هم کوی اوغلاهم نه پریږدی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه ډیرزربه دامونځ دې ددې بدئ نه واوړوی.چونکه مونځ دالله تعالی دذکرنوم دې.ددې وجې نه ئې ددې نه پس اوفرمائیل چه دالله تعالی یادډیرلوې څیزدې.الله تعالی ستاسودټولوخبرونه اوستاسو دصبادکارونونه خبردې.حضرت ابوالعالیه فرمائی چه په مونځ کښې درې څیزونه دی.که دانه وی نومونځ نه دې.① اخلاص اوخلوص،② دالله تعالی نه ویره. ③ ذکرالله. د اخلاص سره خوانسان نیك شی.اودالله تعالی دویرې نه انسان ګناهونه پریږدی.اوذکرالله یعنی قران سره نیکی اوبدی ورته اوښودلې شی.هغه حکم ورکوی اومنع هم کوی.ابن عون انصاری ﷺ فرمائی چه کله تهٔ په مونځ کښې ئې،نوپه نیکئ کښې ئې،اومونځ تهٔ دبدواوخرابو کارونونه منع کړې ئې،اوپه دې کښې چه کوم دالله تعالی ذکرکوې هغه ستادپاره ډیردفائیدې څیزدې. دحماد قول دې چه دکم نه په کم حالت کښې تهٔ به په مونځ کښې دبدئ نه خوبچ ئې.دیوراوی نه دحضرت ابن عباس ﷺ داقول روایت دې چه

Scanned with Ca

کوم بنده الله تعالی یادوی الله تعالی هم هغۀ یادوی.هغۀ ورته اووئیل چه زمونږ سره چه کوم صاحب دې هغه خووائی چه مطلب ددې دادې چه هرکله دالله تعالی ذکرکوې نوهغه به تایادوی او دادیر لونې څیزدې.دالله تعالی فرمان دې(فاذکرونی اذکرکم) تاسومایادوئ زۀ به تاسویادوم.دې اوریدو سره حضورﷺ اوفرمائیل چه هغۀ ربښتیاوئیلې دی یعنی دوړاړه معنې ئې صحیح دی.داهم اوهغه هم.اوپه خپله دحضرت ابن عباس نه داتفسیرهم مروی دې ،دحضرت عبدالله بن ربیعهaim یوه خل : حضرت عبدالله بن عباسﷺتپوس اوکړوچه ددې جملې په مطلب پوهیږې؟هغۀ ورته اووئیل او،ددې نه مرادسبحان الله،الحمدلله،الله اکبروغیره وئیل دی.دوی ورته اوفرمائیل چه تاعجیبه خبره اوکړه داداسې نه دې بلکه مقصدترې دادې چه دحکم اومنع په وخت دالله تعالی ستایادول ستادذکرنه لوې اوډیراهم دې.دحضرت عبدالله بن مسعودﷺ،حضرت ابودرداءﷺ،سلمان فارسیﷺ وغیره نه هم دغه مروی دی.اودغه هم امام ابن جریرm هم خوښ کړې دی.

وَلَا تُجَادِلُوٓا
اومۀ کوئ بحث (جګړه)
او اهل کتابو سره په سختئ نه بلکه
اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِيْنَ
داهل کتابو سره | مګر | په هغه طریقه | چې هغه | ډیره ښه وی | سوا دهغه کسانونه |
په مناسبه طریقه سره بحث کوئ | .....اوکه څوک په کښې زیاتي
ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ
چې ظلم ئې کړې وی | دهغوئ نه | او وایئ | چې ایمان راوړې دې مونږه | په هغه څیز |
اوکړی نو بیله خبره ده | .....اوتاسو دا وایئ چې زمونږ په هغه کتاب هم ایمان دې | کوم چې
اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَاِلٰهُنَا
چې نازل کړې شوې وی | مونږ ته | او چې نازل کړې شوې دې | تاسو ته | او معبود زمونږ |
مونږ ته نازل شوې دې | اوپه هغه کتاب هم چې تاسو ته نازل شوې دې | اوزمونږ
وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝
او معبود ستاسو | یودی | او مونږه | دهغه الله | فرمانبردار یو
او ستاسو معبود یو دې | اومونږ دهغه ټول حکمونه منو |

قوله تعالی:: وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ

اهل کتاب سره دمناظرې طریقه:"حضرت قتادهﷺوغیره خوفرمانی چه داایت دجهادحکم دایت سره منسوخ دې. اوس خوهم دغه دی.چه یاخواسلام قبول کړه،یاجزیه ورکړه،اوجنګ اوکړه. خو دنورو بزرګانومفسرینوویناده چه دامحکم اوباقی دې.کوم یهودی یانصرانی چه په دینی امورووباندې خان پوهول اوغواړی نوهغۀ په مهذبه طریقې سره اوپه ښه اندازکښې پوهول پکاردی.هیڅ عجب نه ده چه هغه نیغه لاراختیارکړی.ځنګه چه په بل ایت کښې عام حکم موجوددې.﴿اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾الخ....دخپل رب دلارې دعوت په حکمت اوبهترین نصیحت سره خلقوته ورکړئ. حضرت موسیعليه السلاماوحضرت هارونعليه السلامره چه کله دفرعون طرف ته لیږلې کیږی نوفرمان ورته کیږی چه ﴿ فَقُوْلَا لَهٗ

﴿قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ﴾ یعنی دهغهٔ سره په نرمئ خبرې کوئ،هیڅ عجیبه نه ده که هغه نصیحت قبول کړی.اودهغهٔ زړهٔ ویلی شی.هم دغه قول دامام ابن جریرmدخوښې دې.اودحضرت ابن زیدﷺنه هم داروایت دې.اوپه دوی کښې چه څوک په ظلم باندې ټینګ شی اوضداوتعصب کوی اودحق دقبلولونه انکاراوکړی نوبیامناظرې اوبحثونه بې فائدې دی.بیاخودجنګ اوقتال حکم دې.څنګه چه دالله تعالی ارشاددې.﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ﴾ الخ...مونږ رسولان په واضحودلیلونوسره اولیږل. او د هغوی سره موکتاب اومیزان نازل کړو.چه په خلقوکښې عدل اوانصاف قائم کړی.بیامونږ اوسپنه هم نازله کړې ده.الخ...پس دالله تعالی حکم دادې چه دخیروالهٔ سره په نرمئ سره اوڅوک چه نه منی دهغهٔ سره دې سختی اوکړې شی.څوک چه جنګ کوی دهغهٔ سره دې جنګ اوکړې شی.اویوه خبره داهم ده چه که څوک سرښکته اوجزیه اومنی.بیافرمائی چه دکوم څیزدکره اوکهوټه پته تاسوته نه وی دهغې دتکذیب طرفته مه مخکې کیږئ.اومهٔ بې اختیاره دهغې تصدیق کوئ.ممکنه ده چه یوحق حکم تاسواونه منئ اوممکنه ده چه دیوباطل تصدیق اوکړئ .پس شرطیه تصدیق کوئ.یعنی وایئ چه زمونږ دالله تعالی په هرخبره باندې ایمان دی.اوکهٔ ستاسو پیش کړې شوې دالله تعالی نازل کړې شوې وی نومونږ دامنو.اوکه تاسوپه کښې کمې بیشې کړې وی نوئې نه منو.په صحیح بخاری کښې دی چه اهل کتاب به په عبرانی ژبه کښې لوستلواوزمونږ په وړاندې به ئې په عربئ ژبه کښې ترجمه کولو.په دې باندې حضورﷺاوفرمائیل چه تاسودوی ته مهٔ دروغژن وایئ اومهٔ ربښتونې.بلکه دا﴿آمَنَّا بِالَّذِيْ﴾ نه تردایت داخره پورې وائې،په مسنداحمدکښې دی چه د رسول اللهﷺ خواته یویهودي راغې اووې وئیل چه ایا دا جنازې خبرې کوی؟ پیغمبرﷺورته اوفرمائیل چه ددې پته الله تعالی ته ده.هغهٔ ورته اووئیل چه ماته پته ده چه دوی یقیناخبرې کوی.په دې باندې حضورﷺاوفرمائیل چه دااهل کتاب چه کله تاسوته څه خبره بیان کړی نومهٔ دوی دروغژن کوه اومهٔ ربښتونې.بلکه وائیه چه زمونږ په الله تعالی باندې دهغهٔ په کتابونوباندې اودهغهٔ په رسولانوباندې ایمان دې.داددې وجې نه چه چرته داسې اونه شی چه تاسودچادروغوته ربښتیااووایئ یادچاربښتاوته دروغ اووایئ.دلته داهم خیال ساتئ چه ددې اهل کتاب اکثرخبرې ددروغووی.اکثربهتان اوخان نه ئې جوړې کړې وی.په دوی کښې تحریف اوتبدل اوتغیراوتاویل رواج بیامونديې.اوصداقت په کښې داسې پاتې شوې دې چه هیڅ هم نه دې.بیایوه خبره بله هم ده چه فرض کړئ خبره ربښتیاهم ده نومونږ ته ئې څه فائده

چې قران شته بیا د بل دین ضرورت نشته:-زمونږ سره خودالله تعالی تازه اوکامل کتاب موجوددې. چنانچه حضرت عبدالله ابن مسعودﷺفرمائی چه تاسوداهل کتاب نه هیڅ پوښتنه مه کوئ.هرکله چه هغوی په خپله ګمراه دی نوتاسوته به څه لاراوښائی.اوداکیدې شی چه دهغوی بعضې ربښتونې خبرې لره ته ددوغ اوګڼې ، یا د هغوی ددروغوخبرې ته ته ربښتیا اووائې، یاد ساتئ چه داهل کتابوپه زړهٔ کښې دخپل دین یوتعصب دې ،څنګه چه دمال خواهش دې (ابن جریر)په صحیح بخاری کښې دی چه حضرت عبدالله ابن عباسﷺ فرمائی چه تاسوداهل کتاب نه سوالونه ولې کوئ؟تاسوخودالله تعالی دطرف نه اوس اوس کتاب نازل شوې دې چه بالکل خالص دې.چه په هغې نه باطل ملاودې اونه به پکښې ملاوشی.تاسوته خوداپه خپله الله تعالی فرمانیلې دی چه اهل کتاب دالله تعالی دین بدل کړې دی.دالله تعالی په کتاب کښې ئې بدلون راوستې دې.اودخپلولاسونولیکلې شوې کتابونوته دالله تعالی کتاب وائی اوددنیاګټه ئې حاصله کړه.ولې ایاتاسوسره چه کوم دالله تعالی کتاب دې هغه ستاسودپاره کافی نه دې.چه تاسو د هغوی نه تپوسونه کوئ.ګورئ داڅومره ناقدری ده چه په هغوی کښې خویوکس هم ستاسونه نه تپوس نه کوی اوتاسودهغوی نه تپوسونه کوئ؟په صحیح بخاری کښې دی چه یوځل حضرت امیرمعاویهﷺپه مدینه منوره کښې دقریشودیوې ډلې په وړاندې اوفرمائیل چه

Scanned with Ca

گورئ په دې ټولو اهل کتاب کښې او ددوی په خبروکولووالوکښې دټولونه ښه او ریښتونې (حضرت)کعب احباردې لیکن ددې باوجودهم مونږ کله کله دهغهٔ په خبروکښې دروغ بیا مومو.ددې مطلب دانه دې چه هغه قصداً دروغ وائی بلکه په کوموکتابونوباندې چه دهغوی اعتباردې هغوی په خپله اوچ لامدهٔ هرڅه راجمع کوی.اوپه هغې کښې په خپله دروغ ریښتیااوصحیح غلط هرڅه پراته دی.په دوی کښې دمضبوط علم دحافظانوهیڅ یوه ډله نه وه داخوپه دې امت مرحومه باندې دالله تعالی خصوصی فضل دې چه په دې کښې الله تعالی دبهترین زړهٔ اودماغووالا اواعلی فهم اوعقل والا اوښه حافظان اواتقان والا خلق پیداکړې دی.خوبیاهم تاسواوګورئ چه څومره دموضوعاتوذخیره جمع شوې ده؟اوځنګه خلقودخپلوځانونونه خبرې جوړې کړې دی.اګرچه محدیثینوباطل لره دحق نه بالکل جداکړې دی.فالحمدلله.

وَكَذٰلِكَ	اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الْكِتٰبَ ؕ	فَالَّذِيْنَ	اٰتَيْنٰهُمُ	الْكِتٰبَ
او دارنګې	نازل کړې دې مونږه	تاته	کتاب	پس هغه کسان	چې ورکړې وو	مونږ هغوئ ته	کتاب
او هم دغه شان مونږ تاته داکتاب راولیږلو	نوچاته چې مونږ ورکړې وو						
يُؤْمِنُوْنَ	بِهٖ ۚ	وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ	مَنْ	يُّؤْمِنُ		
هغوئ ایمان راوړی	په دې باندې	او ځینی ددې (مکې د) خلقو نه	هغه څوک دی	چې ایمان راوړی		
اوس هغوئ په دې کتاب هم ایمان راوړی	او په دوئ (مشرکانو) کښې هم بعضې خلق په					
بِهٖ ؕ	وَمَا يَجْحَدُ	بِاٰيٰتِنَآ	اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ۝	وَمَا كُنْتَ		
په دې باندې	او نه کوی انکار	دایتونو زمونږ نه	مګر کافران خلق	اونه وې ته		
دې (قرآن) ایمان راوړی	اوزمونږ دایتونو نه خو دکافرانو نه بغیر بل څوک انکار نه کوی					
تَتْلُوْا	مِنْ قَبْلِهٖ	مِنْ كِتٰبٍ	وَّلَا تَخُطُّهٗ	بِيَمِيْنِكَ		
چې لوستو به دې	مخکښې ددې نه	څه کتاب	اونه لیکلو تاهغه	په ښی لاس خپل سره		
اوددې نه وړاندې تا چرته کتاب نه وو لوستې	اونه دې په خپل ښی لاس					
اِذًا	لَّارْتَابَ	الْمُبْطِلُوْنَ ۝	بَلْ هُوَ	اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ		
که داسې وی	نو بیا شك کښې پریوتې شو	باطل پرست خلق	بلکه دا قرآن	نښې دی ښکاره		
کتاب لیکلې شو	هغه وخت به دربانديې بیا دې باطل پرستوشکونه کول	بلکه دا خو ښکاره دلیلونه دی				
فِيْ صُدُوْرِ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْعِلْمَ ؕ	وَمَا يَجْحَدُ		
په سینو (زړونو) کښې	دهغه کسانو	چې ورکړې شوې دی	ورته علم	او انکار نه کوی		
د هغه خلقوپه سینو کښې کومو ته چې علم ورکړې شوې دی	اوزمونږ دایتونو					
بِاٰيٰتِنَآ	اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ۝					
دایتونو زمونږ نه	مګر	ظالمان خلق				
نه خو بنور څوک نه صرف ظالمان انکار کوی						

Scanned with Ca

قوله تعالی:: فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ

اهل کتاب او مکې والو کښې څه منونکی هم شته.:- فرمان دې چه څنګه مونږه په مخکینونبیانوباندې کتابونه نازل کړې وو،هم دغه شان داکتاب یعنی قران مجیدهم مونږه ای زمونږ اخری رسوله ﷺپه تاباندې نازل کړې دې.پس داهل کتاب نه چه کوموخلقوزمونږ دکتاب قدراوکړو،اوددې دتلاوت حق ئې ادا کړو او چرته چه ئې په خپلوکتابونوایمان راوړوورسره داپاک کتاب هم منی.لکه څنګه چه حضرت عبدالله بن سلام﷜اوحضرت سلمان فارسی﷜وغیره،اوپه هغوی خلقویعنی په قریشووغیره کښې هم بعضې خلق په دې باندې ایمان راوړی.خوهغه خلق چه په باطل سره حق پټوی اودنمردرنړانه سترګې پټه وی نوهغوی ددې نه هم منکردی.

قوله تعالی:: وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ

ای نبیﷺته په دې خلقوکښې تردیره مودې پورې اوسیدلې ئې،ددې قران دنازلیدونه مخکښې دخپل ژوندیوه لویه برخه دې په دې خلقوکښې تیره کړې ده.دوی ته ښه پته ده چه تاتعلیم حاصل کړې نه دې.ټول قوم اوټول ملك ته ښه پته ده چه ته بالکل بې تعلیمه ئې، په لیکلولوستلوباندې نه پوهیږې.نوهرکله چه نن ته یوعجیبه،فصیح اوبلیغ اودحکمت نه ډك کتاب لولې نو ظاهره ده چه هغه دالله تعالی دطرف نه دې.ته په داسې حالت کښې چه یوتکې دې هم لوستلې نه دې په خپله تصنیف اوتالیف کولې نه شې.دحضوراکرمﷺهم دغه صفت په تیر شوو کتابونوکښې وو.څنګه چه په قران کښې نقل دی ﴿اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ﴾ الخ.یعنی کوم کسان چه تابعداری کوی دهغه رسول اونبی امی دچاصفات چه هغۀ په خپل کتاب تورات کښې لیکلې شوی بیامومی چه دوی ته دنیکوحکم ورکوی.خونددادې چه د الله تعالی معصوم نبیﷺدهمیشه دپاره دلیك نه لرې اوساتلې شو.یوه کرښه څه چه دیوتکی لیکل هم حضورﷺته نه ورتلل.حضورﷺکاتبان مقررکړې ووچه وحی به ئې لیکله.اودضرورت په وخت به ئې د دنیابادشاهانوسره خط اوکتابت هم هغوی کولو.په تیروشووفقهاؤکښې قاضی ابوالولیدباجی وغیره وئیلې دی چه دحدیبیه په ورځ حضورﷺ دا جمله په صلح نامه کښې په خپل لاس لیکلې وه ، چه (هذاماقاضی علیه محمدبن عبدالله)یعنی داهغه شرطونه دی په کوم چه محمدبن عبدالله فیصله اوکړه .خو دا قول صحیح نه دې.داوهم قاضی صاحب ته د بخاری ددې روایت په وجه اوشوچه په هغې کښې دا الفاظ دی چه(ثم اخذفکتب)یعنی بیاحضورﷺپه خپله اولیکل.خوددې مطلب دادې چه حضور ﷺ دلیکلوحکم ورکړلو.څنګه چه په بل روایت کښې بالکل صفاموجوددی،چه(ثم امرفکتب)یعنی بیا حضورﷺ حکم ورکړواواولیکلې شو.دمشرق اومغرب دټولوعالمانو هم دغه مذهب دې بلکه په باجی وغیره په دې قول باندې سخت ردکړې دې اوددې نه ئې دبیزارئ اظهارکړې دې .اوددې قول تردیدئې په خپلوشعرونواوخطبوکښې کړې دی.خوداهم خیال ساتئ چه د باجی صاحب وغیره داخیال هیڅ کله نه ووچه حضورﷺپه ښه طریقې لیکلولوستلوباندې پوهیدو.بلکه هغوی وئیل چه د حضورﷺ داجمله په صلح نامه کښې لیکل دحضورﷺ یومعجزه وه.څنګه چه دحضورﷺفرمان دې چه ددجال د دواړو سترګو ترمینځه به کافرلیکلې شوې وی اوپه یوروایت کښې دی چه ك ف ر به لیکلې شوې وی .چه هرمومن به ئې اولولی یعنی که بې تعلیمه وی نوهم به ئې اولولی.دابه دمومن یوکرامت وی.ددې په شان یوه فقره لیکل دالله تعالی دنبیﷺیومعجزه وه.ددې هرګزدامطلب نه دې چه ګنی حضورﷺپه لیك لوست باندې پوهیدویاحضورﷺ زده کړې وو.

درسول کریم ﷺ د لیکلو روایت ضعیف دې: بعضې خلق یوروایت پیش کوی چه په هغې کښې دی چه د حضورﷺانتقال اونه شوترهغې پورې ترڅوپورې چه هغوی لیکل لوستل زده کړې نه وو .داروایت بالکل کمزورې دې.بلکه هیڅ اصل نه لری.دقران کریم دې ایت ته اوګورئ چه څومره په تاکید سره

Scanned with Ca

دحضورﷺدلیك لوست نه انکارکوی.اوځومره په سختئ اوځومره زورسره ددې انکارکوی چه حضورﷺپه لیکلوباندې پوهیدو.اودائې چه اوفرمائیل چه دښې لاس نه په غالبه اعتبارسره اوونیل ګنی لیکل خوهم په ښې لاس سره کیږی.هم دغه شان﴿وَلَا طٰٓئِرٍ يَطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ﴾ کښې دی ځکه چه هره مرغئ دوزروپه مددسره الوزی.پس دحضورﷺ د اُمی کیدوبیان ئې اوفرمائیلو،ارشادکیږی چه که حضورﷺ لیك لوست والا وې نودې باطل پرستوبه دحضورﷺپه باره کښې دشك ګنجائش بیامونډو ځکه چه د مخکینو نبیانوپه کتابونه به ئ لوستلې وې اودنه به نقل کړې وې،لیکن دلته خوحیرانتیاده چه باوجود د داسې نه کیدوبیاهم داخلق زمونږ درسول اللهﷺپه باره کښې داالزام لګوی اووائی چه دا د تیر شوو خلقوقیصئ دی چه دۀ لیکلې دی اوهم هغه ددۀ په وړاندې سحرمابنام لوستلې شی. باوجود د دې چه ښه پوهه دی چه زمونږ رسول پاکﷺتعلیم یافته نه دې.ددوی ددې قول په جواب کښې جناب باری تعالی عزاسمه اوفرمائیل،دوی ته جواب ورکړه چه داهغه الله تعالی نازل کړې دې چه دزمکې اواسمان دپټوخبرونه خبردارډې.

قوله تعالی:: فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ ؕ

قران پاک د عالمانو او حافظانو په سینو کښې محفوظ دې:: دلته ئې اوفرمائیل چه داروښانه ایتونه دی چه د علم والوپه سینوکښې دی.په خپله ایات په واضحه اوصفاسوتره الفاظوکښې دی بیادعالمانوپه دې پوهیدل،یادساتل،اوپه پیژندګلوکښې اسان،ځنګه چه فرمان دې،﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ﴾ یعنی مونږداقران دنصیحت دپاره بالکل اسان کړې دې.پس څوك شته چه ددې نه نصیحت حاصل کړی. رسول اللهﷺفرمائی چه هرنبی ته داسې ځیزورکړې شوچه دهغې په وجه خلقوپه هغۀ باندې ایمان راوړوماته داسې ځیزدالله تعالی وحی راکړې شوه چه الله تعالی زماطرف ته نازله کړه نوزۀ دالله تعالی دذات نه دااميدساتم چه دټولونبیانودتابعدارانونه به زیات زماتابعداران وی.

د قران پاک د نه وینځلو کیدو او نه سوزیدلو مطلب:: دصحیح مسلم په حدیث کښې فرمان باری تعالی دې چه ای نبیﷺزۀ به په تاازمیښت کوم،اوستاپه وجه به په خلقوهم ازمیښت کوم،زۀ به په تاداسې کتاب نازل کړم چه هغه به اوبه وینځلې نه شی.تۀ به هغه په اودوکښې اوپه ویخه باندې لولې،مطلب ئې دادې چه ددې حروف په اوبوسره اووینځلې شی لیکن هغه دضائع کیدونه محفوظ دې،ځنګه چه په بل حدیث کښې دی چه کۀ قران په یوه ځرمنه کښې وی نواوربه هغه نه سیزی.ځکه چه هغه په سینوکښې محفوظ دې.په ژبه باندې اسان دې.په زړونوکښې موجوددې.اودخپل لفظ اومعنی په اعتبارسره یوژوندئ معجزه ده.هم دغه وجه ده چه په پخوانوکتابونوکښې ددې یوصفت داهم نقل دې چه**اناجیلهم فی صدورهم** دهغوی کتاب به دهغوی په سینوکښې وی.امام ابن جریر دا خوښوی چه معنی ئې داده بلکه علم ددې چه ددې کتاب نه مخکښې چاکتاب نه لوستلواونه په خپل لاسوسره ئې څه لیکل داواضحه ایتونه داهل کتاب دعلم والوپه سینوکښې موجوددی.دقتادهmاوابن جریج نه هم دغه شان نقل دی.اواولنئ قول دحسن بصریm دی اوهم دغه په روایت دعوفیmابن عباسﷺنه نقل دې.اوهم دغه ضحاك ونیلې دې.اوهم دغه زیات ښکاره دې.والله اعلم.

د قران پاک نه انکار ضدی خلق کوی:: بیافرمائی چه زمونږ دایتونونه منل،نه قبلول،دحدنه تیریدونکو او ضدیانوخلقو کاردې.چه نه په حق پوهیږی اونه ددې طرف ته مائیله کیږی.ځنګه چه فرمان دې چه په چاباندې ستادرب خبره ثابته شوې ده هغوی به هیڅ کله ایمان نه راوړی.اګرکه هغوی ته ټول نشانات راشی تردې پورې چه هغوی دغم نه ډك د عذابونو مشاهده اوکړی.

Scanned with Ca

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ

| او وانی دا خلق اولي | نازلي نه کړي شوي اپه دۀ باندي

| اودوئ وائی چې په دي پيغبر باندي دخپل رب

اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاِنَّمَآ اَنَا

نښي | دطرفه درب خپل نه | ورته اووايه | بيشکه نښي | دالله سره دی | او بيشکه زۀ |

د طرف نه څه(غيبي) نښي ولي رانغلي | ورته اووايه چې نښي خو دالله ﷻ په قبضه کښي دی

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ

يرونکي يم | ښکاره | آيا کافی نۀ ده دوئ لره | دانښه چې بيشکه | نازل کړو مونږه | په تاباندي |

او زه خو يو ويرونکي يم | چې صفا صفا ويناکوم | آيا دوئ دپاره دا خبره کافی نه ده | چې مونږ تاته دا

الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً

کتاب | چې اورولي کيږی | دوئ ته | بيشکه | په دي کتاب کښي | خامخا رحمت دي |

کتاب راليږلي دي | چې دوئ ته لوستلي شي | بيشکه په دي کتاب کښي دايماندارو دپاره رحمت

وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ

او نصيحت دي | دپاره دهغه قوم | چې ايمان راوړی | ورته اووايه | کافی دي الله | په منځ زما |

او نصيحت دي | دائي نبي ﷺ ته ورته اووايه | چې صرف يو الله ﷻ زما او ستاسو په مينځ کښي

وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

اوپه منځ ستاسو کښي |په حيثيت دګواه سره |معلوم دی هغه ته | هغه څه | چې په اسمانونو کښي دی

ګواهئ دپاره کافی دي | .....هغه ته داسمانونو او د زمکي هر څه معلوم دی

وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا

اوپه زمکه کښي دی | او هغه کسان | چې ايمان نې راوړو | په باطل باندي | او کفر نې اوکړو

.....او څوک چې په ناحقو يقين کوی | او دالله ﷻ نه انکار کوی

بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝

په الله باندي | دا کسان چې دی | هم دوئ | په خساره کښي دی |

نو هم دغه خلق تاوانيان دی |

قوله تعالى:: وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

دضد په وجه دکافران د معجزو مطالبه:- دکافرانوضد اوعناد بيانيږی.چه هغوی دالله تعالی درسول ﷺ نه داسې نشانات اوغوښتل څنګه چه دصالح ؑ نه هغۀ قوم غوښتلي وو.بياخپل نبی ﷺ ته حکم ورکوی چه دوی ته جواب ورکړه چه ايتونه،معجزې اونشانات ښودنه زماد قدرت خبره نه ده.دادالله تعالی په لاس کښي دی.کۀ هغۀ ستاسونيک نيتونه معلوم کړل نوهغه به درته معجزې اوښائی،اوکۀ تاسوپه خپل ضد کښي لوی لوی خبرې جوړوئ نوالله تعالی ستاسونه ويريږی نۀ.چه دهغۀ خوښه ستاسودخوښې تابع

شنی.څه چه تاسوغواړئ هم هغه درته اوښائی.څنګه چه په بل ایت کښې دی چه دایتونورالیږلونه مونږ څوك منع کولې نه شی.په ځائې ددې چه مخکینوبرابرزمونږ نه انکارکولو،ثمودیانوته اوګورئ زمونږ نشانی اوښه چه کله هغوی ته راغله نوهغوی په هغې باندې ظلم اوکړو،اووائیه چه زه خوصرف مبلغ یم.پیغام رسونکې یم.استاذې یم،زماکارترستاسوغوږونوپورې دالله تعالی پیغام رسول دی ماتاسوته ستاسوښه اوبداوښودل ،نیك اوبدمې درته اوښودل اوس تاسوپوهه شئ اوستاسوکار.هدایت اوضلالت دالله تعالی دطرف نه دې که هغۀ څوك ګمراه کړی نوهغۀ ته څوك لاره ښودلې نه شی.چنانچه په بل خائې کښې دی چه په تادهدایت ذمه نه ده دادالله تعالی کاردې.اودهغۀ په خوښه باندې منحصر ده.

ایادقران معجزه کافی نه ده:: د دوی دې فضول خبروته خولږ شان اوګورئ چه کتاب عزیزدوی ته راغلی دې چه دهغې هیڅ یوارخ ته باطل خواته هم ورتلې نه شی،اودوی تراوسه پورې نخښې غواړی.حالانکه داخودتولومعجزونه اوچته معجزه ده.دتولې دنیافصیح اوبلیغ ددې دمعارضې نه اوددې په شان دکلام پیش کولونه عاجزه شودتول قران معارضه به څه اوکړی؟دلسوسورتونوپه شان بلکه دیوسورت په شان سورت پیش کولو چیلنج باوجودئې اونکړې شو.نو ایا دومره لویه اودرنه معجزه ددوی دپاره کافی نه ده،چه لانور معجزات هم غواړی. دا خوهغه کتاب دې چه په دې کښې دتیروشووخبروپه باره کښې معلومات دی.اودکیدونکی خبروپکښې پیشن ګوئی ده.اودجهګړو پکښې فیصله ده.اوادهغۀ په ژبې سره وئیلې کیږی چه بالکل بې تعلیمه دې.چاچه دچانه الف با هم وئیلې نه دی.چه یوتکې لیکلوباندې هم نه پوهیږی.بلکه کله داهل علم په صحبت کښې هم ناست نه دی.اوهغه کتاب لولی چه دهغې سره د نورو کتابونو رښتیاوالې اودروغ هم معلومیږی،چه دهغې په الفاظوکښې خوږوالې،دکوم په نظم کښې چه روانی،دکوم په اندازکښې چه فصاحت،دکوم په بیان کښې چه بلاغت،دکوم طرزچه زړا راښکونکې ،د کوم سیاق چه دلچسپ،اودتولې دنیاخوبئ په کښې موجوددی.په خپله دبنی اسرائیلو عالمانو هم ددې په تصدیق کولوباندې مجبوردی.اوتیرشوی کتابونه په دې باندې شاهدان دی.ښه خلق په دې مئین اوداخوښوی اوعمل پرې کوی.ددې دومره لوی معجزې په موجودګئ کښې بله معجزه غوښتل صرف انکاردې.

قوله تعالی:: اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

بیافرمائی چه په دې کښې دایمان والودپاره رحمت اونصیحت دې.داقران حق لره ظاهرونکی اوباطل لره تباه اوبربادونکی اوتیروشووحالات ستاسوپه وراندې پیش کوی اوتاسوته دنصیحت او عبرت موقعه درکوی.دګنهګارانجام تاسوته بنائی اوتاسودګناهونونه منع کوی.اووائیه چه په ماباندې اوپه تاسوباندې الله تعالی ګواه دې اودهغۀ ګواهی کافی ده.هغه ستاسوتکذیب اوسرکشی او زما او زما په رښتاوالی اوخیرخواهئ باندې ښه خبردارې.که ماپه هغۀ پورې دروغ ترلې نوهغۀ به ضروردې بدله زمانه اخستې وه،اوهغه داسې کسان بغیردبدلې نه پریږدی.څنګه چه په خپله دهغۀ فرمان دې چه که دې رسول ماپورې یوه خبره هم اوترې نومابه ددۀ ښې لاس نیولې وې اومرئ به مې پرې کړې وې. او څوك به نه ووچه دې ئې زمادلاسه خلاص کړې وې.چونکه په هغۀ باندې زمارښتیاوالې ښکاره دې او زه هم دهغۀ رالیږلی شوې یم اوزۀ دهغۀ نوم اخلم اودهغۀ وئیلې شوې خبرې تاسوته کوم ددې وجې نه هغه زماتائیدکوی اوماته ورځ په ورځ غلبه راکوی اوهغه زمادلاسه معجزات باندې معجزات ښکاره کوی .هغۀ دزمکې اواسمانونوپه غیبوباندې خبرداردې،اودهغۀ نه یوه زره هم پټه نه ده.دباطل منونکی او دالله تعالی نه منونکی په نقصان کښې اوذلیل دی.دقیامت په ورځ به دوی دخپلوبدعملونتیجه اووینی اوکومې سرکشئ چه ئې دلته کړی دی دهغې خوندبه څکی.الله تعالی لره نه منل اوبتانومنل ددې نه زیات ظلم به څه وی،هغه علیم اوحکیم الله تعالی به ددوې دبدلې نه بغیرهیڅ کله پرې نږدی.

Scanned with Ca

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ
او زرغواړی ستانه
اودا خلق د عذاب په غوښتلو
بِالْعَذَابِ ط وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَ هُمُ
عذاب	اوکه نۀ وی نیټه	مقررکړی شوی	نو خامخا به راغلی وی	په هغوئ باندې
تندی کوی	اوکه چرې (دوړاندې نه دهرځیز) وخت مقرر نه وی	نو په دوئ باندې به
الْعَذَابُ ط وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝
عذاب	او خامخا هغه به راځی دوئ باندې	ناسپه	او دوئ به	خبر هم نۀ وی
عذاب راغلی وو	او عذاب به په دوئ ناګهانه راشی	او دوئ ته به خبر هم نه وی
يَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ط وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ ۙ بِالْكٰفِرِيْنَ ۝ لا
او زرغواړی ستانه	عذاب	او بیشکه	دوزخ	خامخا چاپیره دی	دکافرانونه
دوئ په تاباندې د عذاب راتلو تلوارکوی	اوپه دې کښې شک نشته	چې دکافرانو نه به جهنم راتاویږی
يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ
په کومه ورځ	چې راخورشی په دوئ باندې	عذاب	دپاسه ددوئ نه	او دلاند دخپو ددوئ نه
په کومه ورځ چې به پرې عذاب د پورته نه اود پښو نه دلاندې نه دوی راګیر کړی
وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝
اواوبه وائی (ورته الله)	اوڅکئ مزه	دهغه عملونو	چې وئ تاسو	چې کول به مو
او الله ﷻ به ورته اووائی	چې تاسو څه کول دهغې نه خوند واخلئ

قوله تعالی:: وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ط

تندی مه کوئ عذاب به ضرور راځی:- دمشرکانودخپل جهالت په وجه دالله تعالی عذاب لره طلب کولو بیان کیږی.دوی به نبی ﷺ ته هم دغه وئیل اوپه خپله به ئې الله تعالی ته هم دغه سوالونه کول چه اې باری تعالی اکه دې ستادطرف نه حق دې نوتۀ په مونږ باندې داسمان نه کانړې راووروه اومونږ نه دردناک عذاب راکړه.دلته هغوی ته جواب ملاویږی چه الله تعالی داخبره مقررکړې ده چه دې کافرانوته به دقیامت په ورځ عذاب ورکوی اوکه داسې نه وې نوددې په غوښتلوسره به دعذاب توری وریځې په دوی راوریدلې وې.اوس دې هم دوی یقین اوکړی چه داعذاب به راځی اوضرور به راځی.بلکه ددوی په بې خبرئ کښې به په دوی باندې ناګهانه اوپه یوخاڅې راشی.دوی دعذاب دپاره تندی کوی اومونږ هم په جهنم کښې دوی دځلوروواړوطرفونه راګیرکړی دی.دابن عباس ﷺ نه دانقل دی چه هغه جهنم دغه بحراخضردې.ستوری به هم په دې کښې راپریوځی،اونمرسپوږمئ به هم په دې کښې بې نوره شی او غوزارکړې شی.اودې به لمبه شی،اوجهنم به تری جوړشی.دمسند احمدپه مرفوع حدیث کښې دی چه هم سمندرجنهم دی.ددې حدیث راوی حضرت یعلی ته خلقواوونیل چه تاسوخلق نه ګورئ چه الله تعالی فرمائی (اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ط) یعنی هغه اورچه دهغې نه ګیرچاپیره قناتونه دی.نووې فرمائیل چه قسم مې

دي وی په هغۀ باندي دچاپه لاس کښې چه دابويعلی ساه ده زۀ به هيڅ کله په دي کښې نه داخليږم ،ترڅوپورې چه دالله تعالی په وړاندي پيش نه کړي شم.اوماپورې به ددي يوه قطره نه راوڼه رسی تردي پورې چه دالله تعالی په وړاندي پيش کړي شم.داتفسيرهم ډيرغريب دي.اوحديث هم ډير غريب دي.والله اعلم.

قوله تعالی:: وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ

جهنم به کافرانو لره هر طرف نه کيږ وی: بيافرمائی چه په دي دوران کښې به ددوی نه پورته اولا ندي اوروی.ځنګه چه په بل ايت کښې دی.﴿لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ﴾ ددوی دپاره جهنم د اوسيدو ځائي دي.په بل ايت کښې دی ﴿لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ﴾ يعنی ددوی لاندي اوپورته به هم داورفرش اوسيوري وی. په بل ځائي کښې ارشاددي.﴿ لَوْ يَعْلَمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ لَا يَكُفُّوْنَ عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ﴾ الخ....يعنی ارمان چه کافرهغه وخت اوپيژنی هرکله چه دوی به نه د خپلې مخې نه اور لرې کړي شی اونه دخپلې شانه.ددي ايتونونه معلومه شوه چه دهرطرف نه به دي کافرانولره اور خوری .دمخې نه اوروستونه،پورته نه،لاندي نه،دښی ظرف نه،دکس طرف نه،نوپه دوی باندي به دالله تعالی غصه اوقهروی.ددي ځائي نه به ورته هروخت وئيلې کيږی چه واخلئ دعذاب مزه اوڅکئ،پس يو ظاهری جسمانی عذاب دباطنی اوروحانی عذاب.هم ددي ذکرپه ايت﴿يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ﴾الخ.. او په ايت﴿يَوْمَ يُدَعُّوْنَ﴾الخ... کښې دی.يعنی هرکله چه جهنم ته پرمخې رابنکلې شی اوورته به اووئيلې شی چه واخلئ اوس دعذاب مزه اوڅکئ.په کومه ورځ چه به دوی په دهکوسره په جهنم کښې واچولې شی اوورته به اووئيلې شی چه داهم هغه جهنم دي کوم چه تاسودروغ ګنړلو،اوس اووايئ داجادودي؟لارشئ اوس جهنم ته لارشئ،اوس ستاسوصبرکول اونه کول يوشان دی.تاسوبه د خپلو عملونو بدله ضرورببامومئ.

يٰعِبَادِيَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنَّ	اَرْضِيْ	وَاسِعَةٌ	فَاِيَّايَ
اے بندګانو زما هغه بندګانو اچی ايمان موراوړي دي	بيشکه	زمکه زما	فراښه ده	اپس خاص مالره		
ائي زمامومنانو بندګانو! زمکه ډيره فراخه ده	.....			نو تاسو خالص زما عبادت کوئ		

فَاعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾	كُلُّ نَفْسٍ	ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ	ثُمَّ	اِلَيْنَا	تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۷﴾	
بندګی کوئ	هر نفس	څکونکی دمرګ دي	بيا به	اخاص مونږ ته	اواپس راوستلې شئ	
هريو ژوندي به خامخا د مرګ خوند څکی	بيا تاسوټول به ماته راپيش کيږئ					

وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	لَنُبَوِّئَنَّهُمْ	
اوهغه کسان اچی ايمان ئې راوړي دي	او عملونه ئې کړی دی نيک	خامخا به ديره کړو مونږ هغوئ		
او چا چې ايمان راوړي دي	او نيک کارونه کوی	.....	مونږ به ورته د جنت	

مِّنَ الْجَنَّةِ	غُرَفًا	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	
دجنت نه	په داسې مانړو کښې	چې بهيږی به	لاند دهغې نه	نهرونه	همیشه به اوسيږی	
بالاخانو کښې ځائي ورکړو	چې دهغې لاندي به نهرونه بهيږی	همیشه دپاره به په هغې کښې				

فِيْهَا ؕ	نِعْمَ	اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۵۸﴾	الَّذِيْنَ	صَبَرُوْا
په هغې کښې	ډير ښه دي	اجر دعمل کونکو	دهغه عمل کونکو	چې صبر ئې اوکړو
اوسيږی	دنيک (عمل) کوونکو بدله ډيره ښه ده	(يعنی) چا چې صبر کړي وی		

وَعَلٰى رَبِّهِمْ	يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۵۹﴾	وَكَاَيِّنْ	مِّنْ دَآبَّةٍ	لَّا تَحْمِلُ
او په خپل رب باندې	توکل (بروسه) کوی	او څومره ډېر دی	دځناورونه	چې نه باروی
او په خپل رب باندې توکل کوی	.....	او ډېر داسې ساه لرونکی شته		
رِزْقَهَا ۖ اَللّٰهُ	يَرْزُقُهَا	وَاِيَّاكُمْ ۚ	وَهُوَ	السَّمِيْعُ
رزق خپل	الله	رزق ورکوی هغوئ له هم	او تاسو ته	او هغه هر څه	اوریدونکې
چې خپل ځان له روزی سنباله نه ساتلی	الله ﷻ هغوئ ته هم روزی ورکوی	اوتاسو ته هم	او هغه هر څه		
الْعَلِيْمُ ﴿۶۰﴾				
او په هر څه پوهه دې				
اوری	او په هرڅۀ پوهه دې			

قوله تعالی:: يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

د هجرت ترغیب: الله تبارك وتعالی په دې ایت کښې ایمان والوته دهجرت کولو حکم ورکوی.چه هغوی کوم خائې کښې دین قائم نه شی ساتلی، دې ددې خائې نه لاړشی چرته چه دوی ته ددوی په دین کښې ازادی وی.دالله تعالی زمکه ډیره فراخه ده.چرته چه دوی دالله تعالی دحکم مطابق عبادت اوپه توحیدباندې عمل اوکړې شی هلته دې لاړشی.په مسنداحمدکښې دی چه رسول الله ﷺفرمانی،تول ښارونه دالله تعالی ښارونه دی.اوتول بنلدګان دالله تعالی غلامان دی.کوم خائې کښې چه تۀ ښیګړه بیامومې هلته اوسیږه.چنانچه صحابه کرامو ته چه کله په مکه کښې اوسیدل ګران شونوهغوی هجرت اوکړواوحبشې ته لاړل.چه هلته په امن اوامان سره دالله تعالی په دین باندې قائم پاتې شی.دهغه خائې عقلمنداوپوهه بادشاه اصحمه نجاشی ددوی پوره پوره مدداونصرت اوکړو او هلته دوی په ډیرعزت اواوخوشحالئ سره اوسیدل.بیاددې نه پس دالله تعالی په اجازت سره صحابه کرامواورسول الله ﷺ په خپله دمدینې منورې طرف ته هجرت اوکړو.

قوله تعالی:: كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۗ

مرګ نزدې دې د اخرت تیارې اوکدئ ددې نه پس فرمائی چه په تاسو کښې هریوکس لره مړه کیدل او زمابه وراندې حاضریدل دی.تاسوکه خواه هرچرته ئې،دمرګ دپنجې نه خلاصې بیاموندې نه شئ.پس تاسولره ټول ژوند دالله تعالی په اطاعت کښې اودهغۀ په راضی کولو کښې تیرول پکاردی.چه دمرګ نه پس هرکله چه دالله تعالی په وراندې حاضرشئ نوپه بدئ کښې راګیرنه شئ.ایمان داراونیك عمله خلقولره به الله تعالی دجنت عدن اوچتومنزلونوته اورسوی.چه دهغې دلاندې قسم قسم نهرونه بهیږی.چرته صفااوسپینې اوبۀ،چرته دپاکوشرابو او چرته دپیونهرونه.داچینې به په خپله کوم طرف ته جنتی اوغواړی په بهیدوشی.دوی به هلته همیشه اوسیږی،اونه به دهلته نه ویستې شی اونه به لرې کړې شی.نه به هغه نعمتونه ختمیږی اونه به په هغې کښې کمې راځی .مومنانوته دهغوی دنیك عملونو په وجه دجنت اوچتې بالاخانې به مبارك شی.چاچه په خپل ربښتونی دین باندې صبر اوکړو او د الله تعالی طرف ته ئې هجرت اوکړودهغۀ دشمنان ئې پرېښودل او خپلو خپلوانولره اوخپله کورواولره ئې دالله تعالی په لاره کښې پرېښیودل دهغۀ دنعمتونو اودهغۀ د انعاماتوپه امیدباندې ئې ددنیاعیش اوعشرت ته لته ورکړه.

Scanned with Ca

دجنت بالاخانې به دچا دپاره وی :په ابن ابی حاتم کښې دی چه رسول الله ﷺفرمائی،په جنت کښې داسې بالاخانې دی چه دهغې ظاهردباطن نه په نظرراځی.الله تعالی هغه ددوی دپاره جوړې کړې دی.څوک چه په بل روتې خوری اوخوش کلام اونرم گفتاروی.دمونځ روژې پابندوی،اودشپې هرکله چه خلق په خوب اوده وی دوی مونځونه کوی.اوپه خپل رب باندې کامله بهروسه ساتی،په خپلوټولواحوالوکښې که دنیاوی اوکه دینی.

قوله تعالی: وَكَأَيِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا

هجرت سره رزق نه کمیږی بلکه زیاتیږی: بیائې اوفرمائیل چه رزق دیوخائې سره خاص نه دې.بلکه دالله تعالی تقسیم کړې شوې رزق عام دې.اوهرخائې کښې دې.څوک چه چرته وی هلته ووررسی. د مهاجرین په رزق کښې الله تعالی دهجرت نه پس هغه برکت واچولوچه دوی د دنیا د اطرافو مالکان شو. نووې فرمائیل چه ډیرځناوردی چه نه دخپل رزق دراغوندولوطاقت لری اودهغې نه دحاصلولو،نه دصبادپاره څه ږدی،دالله تعالی په ذمه دهغوی رزق دې.پروردګارهغوی ته دهغوی رزق رسوی.ستاسورازق هم هغه دی.هغه هیڅ مخلوق لره په هیڅ وخت کښې نه هیروی.میږوته دهغوی په سوړوکښې،مرغوته په اسمان اوزمکه اوددې ترمینځه خلا کښې،ماهیانوته په اوبوکښې،هم هغه رزق ورکوی.څنګه چه نې اوفرمائیل.﴿وَمَامِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ﴾ الخ...یعنی په مځ دزمکې هیڅ یو ځناورداسې نشته چه دهغه روزی د الله تعالی په ذمه نه وی.هم هغه دهغوی داوسیدوځائې ښه پیژنی.داهرڅه د هغۀ په روښانه کتاب کښې موجوددی.ابن ابی حاتم کښې دی.ابن عمر ﷺفرمائی.زۀ درسول الله ﷺسره روان وم.دمدینې باغونوکښې یو باغ ته رسول کریم ﷺلاړو،اوراپریوتې کهجورې حضور ﷺصفاکولې اوخوړلې،ماته ئې هم دخوراک دپاره اوفرمائیل،ماورته اووئیل،حضور ﷺزه خوداکهجورې خوړې نه شم. حضور ﷺاوفرمائیل لیکن په ماخوداډیرې ښه معلومیږی.ځکه چه دځلورمې ورځې سحردې چه ماڅه خوړلې نه دی.اونه ماته دخوراک دپاره څه ملاوشوې دی.واوره کۀ ماغوښتې نوالله تعالی ته به مې سوال کړې وواوالله تعالی به زه دقیصراوکسری مالک جوړکړې وې.اې ابن عمراستابه څه حال وی کله چه تۀ به په داسې خلقوکښې ئې چه دټول کال دپاره به غله جمع کوی،اودهغوی یقین اوتوکل به بالکل ختم شوې وی.مونږ لاپه هغه حالت کښې ووچه داایت ﴿وَكَأَيِّنْ﴾الخ...نازل شو.پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل،الله تعالی ماته دخزانودجمع کولواوخواهشاتوپسې دتلوحکم نه دې راکړې،کوم کس چه د دنیا خزانې جمع کړی اودهغې سره باقی ژونداوغواړی،هغه دې پوهه شی چه دحیات والا باقی ژوند خودالله تعالی په لاس کښې دې.ګوره زۀ خوبه نه درهم اودینارجمع کوم اونه به دصبادپاره نن روزی جمع کوم.داحدیث غریب دې.اوددې راوی ابوالعطوف جزری ضعیف دې.

د کارغه بچی خوری؟ :دامشهوره ده چه دکارغۀ د بچی کله بنړې راوځی نودهغۀ بنړې وزرې سپین وی داچه اووینی نوکارغۀ په نفرت سره دهغه نه اوتختی.څوورځې پس دهغووزرورنګ تورشی. نو بیا هله دهغوی مورپلارواپس راشی اوهغوی دانه وغیره ورکوی.په شروع ورځوکښې هرکله چه ددوی مور پلارددوی نه متنفرشی اواوتختی اوددوی خواته هم نه راځی،نوهغه وخت کښې الله تعالی واړه واړه ماشی ددوی خواته رالیږی،چه ددوی خوراک جوړیږی .دعربو شاعرانو دانظم کړې هم دې. د حضور ﷺ فرمان دې چه سفرکوئ چه صحت اوروزی بیا مومئ.په بل روایت کښې دی چه سفرکوئ چه صحت اوعنیمت ملاوشی،په بل حدیث کښې دی چه سفرکوئ نفع به بیامومئ اوروژې نیسئ نوصحت مندبه ئې،جهادکوئ غنیمت به درته ملاویږی،په بل روایت کښې دی چه کوشش کونکی اواسانئ والوسره سفرکوئ،بیائې اوفرمائیل الله تعالی د خپلو بندګانو خبرې اوریدووالا اودهغوی حرکات اوسکنات باندې پوهه دې.

Scanned with Ca

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ	
او که تۀ تپوس اوکړی ددوئ نه چې چاپیدا کړی دی آسمانونه	
او په هرڅۀ پوهه دې اوکه چرې ته ترې تپوس اوکړې اچې هغه ذات څوک دې چې آسمانونه	
وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ ۚ	
او زمکه او تابع کړی ئې دی نمر او سپوږمئ نو خامخا به اووائی چې الله	
اوزمکه ئې پیدا کړی دی اونمر او سپوږمئ ئې په کار لګولی دی دوئ بۀ ضرور اووائی	
فَأَنّٰى يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ	
نو دکوم خائې نه دوکه کیږی دوئ الله فرابنه کوی رزق دپاره دهغه چاچې خوښه ئې شی	
چې الله ﷻ نو بیا دوئ کوم طرف ته اړولې روان دی الله هغه ذات دې چې پخپلو بندګانو کښې پخپله	
مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٢﴾	
دبندګانو خپلو نه او تنګوی (روزی) هغه لره بیشکه الله په هر څیز باندې عالم (خبر) دې	
خوښه د چا رزق فراخه کوی او دچا رزق تنګوی بیشکه الله ﷻ په هر څیز ډیر ښه پوهه دې	
وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا	
او که تۀ تپوس اوکړې ددوئ نه چې چا نازل کړی دی د آسمان نه اوبۀ پس ژوندئ ئې کړه	
اوکه ته ددوئ نه تپوس او کړې چې چا پورته نه اوبۀ راوولې دی نوزمکه ئې	
بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ	
په هغې باندې زمکه روستو دمرګ دهغې نه نو خامخا به اووائی اچې الله اورته اووایه	
دمړه کیدو نه پس بیا راژوندئ کړه نو دوئ به وائی چې الله ﷻ نازل کړی دی ته اووایه چې	
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٣﴾ ع	
چې ثناده الله لره بلکه زیات خلق ددوئ نه دعقل نه کار نۀ اخلی	
ټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی اخو په دوئ کښې زیات کسان نه پوهیږی	

قوله تعالی:: وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ

درزق فراخی اوتنګی دالله تعالی په لاس کښې ده:- الله تعالی ثابتوی چه معبودبرحق صرف هغه دې. خپله مشرکان هم داخبره منی چه دزمکې اسمان پیداکونکې،نمراوسپوږمئ لره مسخر کونکې، شپې او ورځې لره پرله پسې راوستونکې،خالق،رازق،مرګ اوژوندباندې قادرصرف الله تعالی دې.هغه ته ښه پته ده چه دمالداریٔ لائق څوک دې؟اودغریبیٔ لائق څوک دې؟دخپلوبندګانومصلحتونه هغۀ ته پوره پوره معلوم دی.پس هرکله چه مشرکانوته په خپله پته ده چه دتولوڅیزونوخالق صرف الله تعالی دې په هرڅه باندې قابض صرف هغه دې.بیادهغۀ نه علاوه دنوروعبادت ولې کوی؟اودهغۀ نه علاوه په نوروباندې توکل ولې کوی؟هرکله چه هغۀ دملك مالك یواځې دې.نودعبادتونولائق هم هغه یواځې دې.توحیدربوبیت منلوسره بیادتوحیدالوهیت نه انکارعجیبه څیزدې.په قران کریم کښې خو د توحید ربوبیت سره سره دتوحیدالوهیت ذکرپه کثرت سره دې.ځکه چه دتوحیدربوبیت دمکې مشرکان قائل

Scanned with Ca

خوونونوهغوی ته قائل کیدوسره سره دتوحیدالوهیت دعوت ورکړې کیږی.مشرکانوبه په حج اوعمره لبیك ونیلوسره بیاهم دالله تعالی سره دشریکانواقرارکولو،«لبیك لاشریك لك الاشریكا هولك تملكه ومامالك»یعنی ای الله مونږ حاضرشوستاڅوك شریك نشته خوداسې شریکان دچامالك اودچادملك مالك هم ته ئې.

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ	
اونۀ دې ا دا ژوند	
اود دنیا دا ژوند	
الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ	
ددنیا ا مګر ا عبث کار دې او لوبه ده ا او بیشکه کور داخرت ا خامخا هغه دې اصلی ژوند ا	
دلوبو او دتماشو نه سوا بل هیڅ حققیت نه لری ا اواصل ژوندون د اخرت دې	
لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝ فَاِذَا رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ	
افسوس چی وې دا خلق ا چی پوهیدلې ا پس هر کله چی ا سوارۀ شی دا خلق ا په کشتئ کښی ا	
کاش اچې دوئ پوهیدلې ا ..... کله چې دوئ په بیړئ کښې سواره شی	
دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا	
نو رابلی الله ا په دا حال کښی چی خالص کونکی وی ادپاره دهغه(الله) ادین(خپل)لره ا پس هر کله چی	
نو بیا صرف الله ﷻ پاک رابلی ا .....خوڅه وخت چې	
نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ۝	
هغه بچ کړی هغوئ لره ا وچې ته ا نو بیا هغوئ ا شریك جوړوی دالله سره ا	
مونږ ئې اوچې غاړې ته واړوو ا .....نو بیا الله ﷻ سره شریکان جوړوی	
لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚ	
دپاره ددې چی ناشکری اوکړی هغوئ ا په هغه نجات) ا چی ورکړې ووئ مونږ هغوئ ته ا	
نو څه چې مونږ دوئ ته ورکړی دی ا .....دهغې ناشکری کوی ا او دپاره ددې	
وَلِيَتَمَتَّعُوْا ۟ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝	
او چی نفع واخلی (ددنیا دژوند) ا پس ډیر زربه ا معلوم شی دوئ ته ا	
چې څو ورځې مزې واخلی انو ډیر زر به (په ځان) پوهه شی ا	

قوله تعالی:: وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ

مشرکانوبه دمصیبت په وخت کښې الله تعالی ته اوازکولو:-ددنیادسپك والی اوذلالت ددې دزوال او فنا ذکر کیږی.چه دې لره هیڅ همیش والې نشته،دابه همیشه قائمه نه وی داخوصرف لهولعب دې.داخرت ژوند د دوام اوهمیشه باقی پاتې کیدونکې ژوندې.هغه دزوال اوفنا اوذلالت نه لرې دی.که دوی ته پته وې نودې باقی پاتې کیدونکی څیزباندې به ئې فناځیزته فوقیت نه ورکولو.

Scanned with Ca

بیا فرمانی چه مشرکان دبې وسئ په وخت کښې خواللہ تعالی وحده لاشریك ته اوازونه کوی .بیاد مصیبت اخواکیدوسره اوتکلیف لرې کیدوسره دنورونومونه ولې اخلی؟څنګه چه په بل ځائې کښې دی ﴿وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ﴾ الخ...یعنی هرکله چه په سمندرکښې په مشکل کښې راګیرشی هغه وخت دالله تعالی نه علاوه نورټول ترینه هیرشی اوکله چه په هغه ځائې کښې خلاصې بیامومی اواوچې ته راشی نوفوراً مخ اوګرځوی.

دعکرمه بن ابی جهل دایمان واقعه:: په سیرت ابن اسحاق کښې دی چه کله رسول اللهﷺمکه فتح کړه، نو عکرمه بن ابوجهل دهلته ته اوتختیدو.اوحبشې ته دتلوپه اراده په کشتئ کښې کښیناستو.اتفاقاً سخت طوفان راغې نوکشتئ اخوادیخواتله راتله.څومره مشرکان چه په کشتئ کښې ووټولواوونیل چه داموقعه صرف الله تعالی ته داوازورکولوده.پاځئ اوپه اخلاص سره الله تعالی ته دعاګانئ اوکړئ دې وخت کښې خلاصې صرف دهغهٔ په لاس کښې دې.دې اوریدوسره عکرمهﷺاوفرمائیل،واورئ په الله تعالی مې دې قسم وی که دسمندرددې بلانه دهغهٔ نه علاوه نورڅوك مونږ ته خلاصې راکولې نه شی نوپه اوچه باندې هم دمصیبتونولرې کولووالا هم هغه دې.اې الله تعالیازهٔ ستاسره وعده کوم چه که ددې ځائې نه بچ لاړم نوسیده یعنی نیغ به لاړشم اودحضرت محمدرسول اللهﷺپه لاس کښې به خپل لاس کیږدم او د حضور ﷺ کلمه به اووائیم.زمایقین دې چه دالله تعالی رسول ﷺبه زماخطاګانې معاف کړی.اوپه مابه رحم اوکړی.نوهم دغسې اوشو(لِيَكْفُرُوا) او(وَلِيَتَمَتَّعُوا)کښې چه کوم لام دې دې ته لام عاقبت وائی ځکه چه ددې قصددانه وی اوفی الواقع دهغهٔ طرف ته نظراچولونه هم داخبره ده.اودالله تعالی په نسبت خودلام تعلیل دې.ددې پوره تقریرمونږ په ایت ﴿لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا﴾ کښې کړې دې.

أَوَلَمْ يَرَوْا					
آیا نۀ ګوری دا خلق					
آیا دوئ چرې غور نه دې کړې					
أَنَّا جَعَلْنَا	حَرَمًا	آمِنًا	وَيُتَخَطَّفُ	النَّاسُ	
چې بیشکه جوړ کړو مونږ	حرم	امن ورکونکې ځائې	حالانکه تښتولې کیږی	خلق	
چې مونږ حرم دامن ځائې ګرځولې دې	اود ګیرچاپیره علاقو نه خلق (په زوره) بهر ویستلې شی				
مِنْ حَوْلِهِمْ ط	أَفَبِالْبَاطِلِ	يُؤْمِنُونَ	وَبِنِعْمَةِ اللهِ	يَكْفُرُونَ ۝	
چاپیره ددوئ نه	آیا پس په باطل باندې	ایمان راوړی دوئ	او په نعمت دالله	کفر کوی دوئ	
نو آیا دوئ بیا هم په باطلو معبودانو باندې ایمان راوړی	اودالله ﷻ دنعمتونوناشکری کوی				
وَمَنْ	أَظْلَمُ	مِمَّنِ	افْتَرَى	عَلَى اللهِ	كَذِبًا	أَوْ كَذَّبَ
او څوك دې	ډیر ظالم	دهغه چانه	چې دخانه جوړوی	په الله باندې	دروغ	یا دروغ ګڼړی
اود هغه چا نه غټ ظالم څوك کیدیشی	چې په الله ﷻ پورې دروغ اوتړی	بیا کله چې				
بِالْحَقِّ	لَمَّا	جَاءَهُ ط	أَلَيْسَ	فِي جَهَنَّمَ	مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ ۝	
حق لره	هر کله چې	راشی هغه ته	آیا نشته	په دوزخ کښې ځائې	دپاره دکافرانو	
حقه خبره ورته اورسیږی	نو هغې ته دروغ وائی	آیا دکافرواستوګنه به په دوزخ کښې نه وی؟				

Scanned with Ca

وَالَّذِيْنَ	جَاهَدُوْا	فِيْنَا	لَنَهْدِيَنَّهُمْ	سُبُلَنَا ؕ
او هغه کسان	چې محنت کوی	په دین زمونږ کښې	خامخا به ښایو مونږ هغوئ ته	لارې زمونږ
اوځوک چې زمونږ ددین په لاره کښې کوشش کوی		نو مونږ به ورته خپلې لارې اوښایو		

وَاِنَّ اللّٰهَ	لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۶۹﴾ ع
او بې شکه الله	خامخا دنیک عملو خلقو سره دي
اوبیشکه الله ﷻ نیکانو خلقو سره دي	

قوله تعالی:: اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا اٰمِنًا

زمانعمت یادکړئ اوزماپه نبی ایمان راوړئ:-الله تعالی قریشوته خپل احسان وریادوی چه هغۀ دوی ته په خپل حرم کښې ځائې ورکړو.کوم ته چه هرکس ورشی هغه امن ته وراورسی.ددې سره خواوشاکښې جدال اوقتال اولوټ مارکیږی.اوددې ځائې والا په امن اوامان سره خپل ژوندتیروی.څنګه چه ئې په سوره(لایلف قریش)الخ...کښې بیان اوفرمائیل،نوایاددې دومره لوې نعمت شکریه داده چه دوی دالله تعالی سره د نوروهم عبادت اوکړی؟دایمان راوړوپه ځائې کفرکوی،اوپه خپله هم تباه شی اونورهم دتباهئ په لارباندې روان کړی.دوی له خوداپکارووچه دوی دیوخداې په عبادت کښې دهرچانه زیات وې.نبی اخرالزمان ﷺ ددوی پوره ربښتونې ملګرې دې.خودوی ددې التیادالله تعالی سره شرک اوکفرکول اونبی اکرم ﷺ نه منل اوهغۀ ته تکلیف اومصیبت رسول شروع کړی دی.په خپله سرکشئ کښې تردې حدپورې مخکښې شوې دی چه دالله تعالی پیغمبر ﷺ ئې دمکې نه بهرکړو.

نوپه اخره کښې دالله تعالی نعمتونه شوکیدل ددوی نه شروع شو.دبدرپه ورځ ددوی مشران په بې دردئ سره قتل شو.بیاالله تعالی دخپل نبی ﷺ په لاس مکه فتح کړه.اودوی ئې ذلیل اوپست کړل .او د هغۀ ند زیات لوې ظالم بل هیڅوک نشته چه په الله تعالی پورې دروغ اوتړی.وحی نه راځی اواووائی چه زماطرف ته وحی کیږی.اودهغۀ نه زیات لوې ظالم هیڅوک نه دې چه دالله تعالی ربښتونې وحی اودهغۀ حق اونه منی اودحق رارسیدوباوجودپه دروغوباندې کلک ولاړوی داسې مفتری اودورغ وئیونکی خلق کافردی.اوددوی ځائې جهنم دې.

د وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا نه مراد رسول ﷺ او ددۀ اتباع ده::دالله تعالی په لاره کښې مشقت اوچتونکونه مراد رسول الله ﷺ، درسول الله ﷺ اصحاب،اودحضور ﷺ تابع فرمان خلق دی.چه ترقیامته پورې وی نوفرمانی چه مونږ به ددې کوشش کونکورهنمائی کوواوپه دنیااودین کښې به دوی ته لارې ښائیو.

حضرت ابواحمدهمدانی mفرمانی چه ددې نه مراددادې چه کوم خلق په خپل علم باندې عمل کوی الله تعالی دوی ته ددوی په کارونوکښې هدایت ورکوی چه دهغوی په علم کښې نه وی.دابوسلیمان دارانی ته چه کله داذکرکیږی نودوی فرمانی چه دچاپه زړۀ کښې څه خبره پیداشی اګرکه هغه ښه خبره وی مونږلره په هغې باندې عمل کول پکارنه دی.ترڅوپورې چه دقران اوحدیث نه هغه خبره ثابته شوې نه وی.کله چه ثابته شی نوعمل دې اوکړی اودالله تعالی حمددې اوکړی چه دهغۀ په زړۀ کښې راغلې وه هم هغه په قران اوحدیث کښې هم راووته،الله تعالی دمحسنینوسره دې.

د احسان مطلب::حضرت عیسی ابن مریم ﷺ فرمانی چه احسان ددې نوم دې چه څوک تاسره بدسلوک اوکړی نوتۀ ډهغۀ سره نیک سلوک اوکړه.داحسان کونکی سره داحسان کولونوم احسان نه دې.والله اعلم.

(الحمدلله) دالله تعالی په فضل اوکرم سره دسوره عنکبوت تفسیرختم شو.

Scanned with Ca

ایاتونه	سورة الروم مکیة وهي ستون اية وست رکوعات	رکوع ګاني
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	شروع کوم په نوم د الله چه ډير مهربان زيات رحم کونکي دي	①

الٓمّٓ ① غُلِبَتِ الرُّوْمُ ② فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ

الف . لام . میم | غلبه حاصله کړي شوه په روم باندې | په نزدې زمکه کښې | او هغوئ به |

الم : رومیانو (دشام دملک) په نزدې علاقو کښې (دایران دلاسه) ماتې اوخوړله | او هغوی به

مِّنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ۙ ③ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ؕ لِلّٰهِ الْاَمْرُ

روستو دمغلو بوالی خپل نه | زر غالب شی | په یو څو کلونو کښې | خاص الله لره دي | اختیار

ددې ماتی (شکست) نه پس په یوڅو کاله کښې دننه دننه بیا غالب شی . | وړاندې هم د الله تعالی

مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ ④

مخکښې (یعنی اول هم) | او روستو هم | او په دغه ورځ به | خوشحالی کوی | مومنان |

اختیار وو | او روستو هم (اختیار) د هغه دي | او په دغه ورځ به مسلمانان د الله تعالی په مدد

بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۙ ⑤

په امداد دالله سره | امداد کوی الله | دهغه چاچې خوښه ئې شی | او هغه | غالب دي | مهربانه دي |

خوشحالی کوی | هغه چې دهرچا باره کښې اوغواړی مدد ورسره کوی | اوهغه زبردست اورحم کونکي دي

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

دا وعده دالله ده | خلاف نۀ کوی الله | دوعدې خپلې | ولیکن | اکثر خلق |

دا د الله ﷻ وعده ده | الله ﷻ دخپلې وعدې نه هیڅ کله خلاف نه کوی | خوزیات خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ⑥ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَهُمْ

نۀ پوهیږی | او پوهیږی خلق | په ظاهری ارخ | دژوند ددنیا نه | او دوئ |

په دې نه پوهیږی | .....داخلق خو بس ددنیا دژوند په ظاهری خبرو پوهیږی | او دوی د

عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ⑦

داخرت نه | هم دوئ | غافله دی |

آخرت نه بیخی ناخبره دی |

قوله تعالی:: وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ۙ ③

رومیان به غالبه شی یوه عظیم الشان پیشګوئ :- داایتونه هغه وخت نازل شوهرکله چه ساه پورشاه فارس دشام اوجزیره او خواوشاعلا قوباندې غالب شو.اودروم بادشاه هرقل تنګ شواوپه قسطنطنیه کښې محصورشو.تردیره وخته پورې محاصره وه په اخره کښې حالات بدل شواودهرقل فتح اوشوه.په تفصیل سره بیان مخکښې راځی،په مسنداحمد کښې دحضرت ابن عباس رضی الله عنه ددې ایت په باره کښې روایت

دې چه رومیانوته شکست اوشو،اومشرکانوپه دې باندې ډیرې خوشحالئ اوکړې.ځکه چه څنګه دوی بت پرست ووهم دغه شان دایران والا هم دوی په شان وو،اودمسلمانانوخوښه وه چه رومیان غالب شي،ځکه چه هغوی کم ازکم اهل کتاب خوو.

د.ابو بکر صدیق ؓ د مشرکانو سره شرط::حضرت ابوبکرصدیقؓچه کله داذکرحضورﷺته اوکړو نو حضورﷺاوفرمائیل چه رومیان به ډیرزرغالب شی.صدیق اکبرؓچه کله داخبرمشرکانوته اورسولو نو هغوی ورته اووئیل،نوهغوی ورته اووئیل چه راځه شرط اوتړه اووخت مقررکړه.کۀ رومیان په دغه موده کښې غالب نه شونوتۀ به مونږ ته دومره دومره راکوې،اوکه تۀ رښتونې اوختې نومونږ به تاته دومره دومره درکوو.دپنځوکالووخت مقررشو.هغه موده پوره شوه،اورومیان غالب رانغلل،نوحضرت ابوبکرؓخدمت نبویﷺته داخبراورسولو،حضورﷺدوی ته اوفرمائیل چه تادلسوکالوموده ولې مقرر کړې نه وه،سعیدابن جبیرؒوائی چه په قران کښې دمودې دپاره لفظ(بضع)استعمال شوې دې اودلسونه په کموباندې ددې اطلاق کیږی.نوهم دغسې اوشوپه لس کاله کښې دننه دننه رومیان بیاغالب شو.

امام ترمذی دې حدیث ته غریب وئیلې دې.حضرت سفیان mفرمائی چه دبدردجنګ نه پس رومیان هم په فارسیانوپه غالب شو،دحضرت عبداللهؓفرمان دې چه پنځه ځیزونه تیرشوې دی، دخان، او لزام،اوبطشه،اودشق قمرمعجزه،اودرومیانوغالب راتلل.په بل روایت کښې دی چه دحضرت ابوبکر ؓ شرط داؤوکالووو.حضوراکرمﷺدهغۀ نه تپوس اوکړوچه (بضع)په تاسوکښې څه معنی لری؟جواب نې ورکړوچه دلسونه کم.بیائې ورته اوفرمائیل چه لاړشه اوموده دوه کاله نوره هم زیاته کړه.نوهم په دغه موده کښې دننه دننه درومیانودغالبه کیدوخبرعربوته راورسیدو،اومسلمانانو خوشحالئ اوکړې.هم ددې بیان په دې ایتونوکښې دې.په بل روایت کښې دی چه مشرکانودحضرت صدیق نه دااایت واوریدونووې وئیل چه تۀ په دې کښې هم ځان رښتونې ګڼې؟دوی ورته اوفرمائیل هو.په دې باندې شرط اوتړلې شواوهغه موده تیره شوه اورومیان غالب رانغلل.حضوراکرمﷺته چه کله ددې شرط پته اولږیده نوحضورﷺغمژن شواوجناب صدیقؓته ئې اوفرمائیل چه تاداسې ولې اوکړل.جواب ورته ملاو شو چه دالله تعالی درسولﷺپه رښتونوالې باندې باورکولوسره.حضورﷺورته اوفرمائیل چه بیالاړشه اوموده لس کاله مقررکړه.خوا کښې څیزهم زیاتولې شی.دوی مشرکانوسره دوباره دمودې زیاتولوشرط منظورکړو.لالس کاله پوره شوې نه ووچه رومیان په فارس باندې غالب راغلل.اومدائن ته دهغوی فوځونه راورسیدل اودرومیه بناء هغوی واچوله،حضرت صدیقؓدقریشونه دشرط مال واخستو او حضورﷺ ته ئې راوړو.حضورﷺورته اوفرمائیل چه داصدقه کړه.په بل روایت کښې دی چه داواقعه د شرط ترلودحرام کیدونه مخکښې ده،په دې کښې دی چه مودۀ شپږ کاله مقررشوې وه چه داپیښن کوئی پوره شوه اورومیان غالب شونوډیرومشرکانوایمان راوړو.(ترمذی)

یوه عجیبه واقعه:: یوه ډیره عجیبه قیصه امام سنیدبن داودپه خپل تفسیرکښې لیکلې ده،چه عکرمه ؓ فرمانی چه په فارس کښې یوه ښځه وه چه دهغې خامن به زبردست پهلوانان یابادشاهان وو.کسری یو خلې هغه راوغوښته اوهغې ته ئې اووئیل چه زۀ رومیانوباندې یولښکرلیږل غواړم.اوستاپه اولاد کښې یوکس د دې لښکرسردارجوړول غواړم.اوس تۀ مشوره راکړه چه څوک سردارجوړکړم؟هغې ورته اووئیل چه واوره زمافلانې خوې هرمزخودلومبړې نه زیات مکاراودشکری (یوقسم مرغئ ده) نه زیات هوشیاردې.دویم خوې فرحان دغشی په شان دې.دریم هلك شهربرازدتولونه زیات حلیم الطبع دې.اوس چه ستاکوم یوخوښ وی سرداری ورکړه.بادشاه دسوچ فکرنه پس شهربراز ته سرداری ورکړه.دۀ لښکردخان سره بوتلو.اورومیانوسره اوجنګیدواوپه هغوی باندې غالب راغې،د هغوی لښکرې ټې کټ

Scanned with Ca

کړي اودهغوی ښارونه ټي وران کړل.اودهغوی باغونه ټي بربادکړل.دغه شین ابادملك ټي ویران اوشارکړو،اذرعات اوبصری سره دعربوحدونه ملاویدل هلته یوه زبردسته معرکه اوشوه اوهلته فارسیان په رومیانوباندې غالب راغلل.چه په هغې باندې قریشوخوشحالئ کولې،اومسلمانان پرې خفه وو.کفارقریش به مسلمانانوته پیغورونه ورکول چه ګورئ تاسواونصرانیان اهل کتاب دی.اوفارسیان بې تعلیمه دی. زمونږ والا په تاسویاندې غالب شو.هم دغه شان به مونږ هم په تاسویاندې غالب کیږو،اوکه جنګ اوشونومونږ به درته اوښانیوچه تاسویه ددې اهل کتاب په شان زمونږ دلاسه شکست خورئ.په دې باندې دقران داایتونه نازل شو.

حضرت ابوبکرصدیق ﷺچه داایتونه واوریدل نومشرکانوته راغې اووې فرمائیل چه په دې فتح باندې غرورمه کوئ دابه ډیرزرپه تاوان کښې بدله شی.اوزمونږ رونړه اهل کتاب به ستاسویه رونړوغالبه شی.ددې خبرې یقین اوکړئ ځکه چه دازماخبره نه ده بلکه دازمونږ دنبی اکرم ﷺپیشن ګوئی ده.دائې چه واوریدل نوابی بن خلف پاسیدواووې وئیل چه اې ابوفضیل ته دورغ وائې،دوی ورته اوفرمائیل چه اې دالله دشمنه،ته دروغژن ټي،هغۀ ورته اووئیل چه نبه ده زۀ دلسواوښانوشرط ترم.که تر دریو کالو پورې رومیان په فارسیانوباندې غالب راغلل،نوزۀ به تاته لس اوښې درکوم.ګنی ته به ماته راکړې، حضرت صدیق اکبر ﷺداشرط قبول کړو.بیاراغې اورسول الله ﷺته ټي ددې خبرې ذکر اوکړو .نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه ماتاته ددریوکالونه وو وئیلې،(بضع)لفظ په قران کښې دی. او دادریونه تر نهو پورې وئیلې کیږی.لاړشه اوښې هم زیاتې کړه اومړه هم زیاته کړه.حضرت ابوبکر ﷺ لاړوکله چه ابی بن خلف ته اورسیدونوهغۀ ورته اووئیل چه کیدې شی ته پښیمانه ټي؟دوی ورته اوفرمائیل واوره زۀ خود مخکښې نه هم زیات تیارراغلې یم.راځه چه موده زیاته کړواودشرط مال هم زیات کړو.نوسل اوښان مقررشو، اومودہ نهه کاله مقررشوه،په دې موده کښې رومیان په فارسیانوباندې غالبه راغلل ،او مسلمانان په قریشوباندې خواره شو.درومیانودغلبې واقعه داسې اوشوه چه کله فارسیان غالبه شو نو د شهربرازرورفرخان شراب څکل اووې وئیل چه مالیدلې دی چه ګویازۀ دکسری په تخت باندې راغلې یم.اودفارس بادشاه جوړشوې یم.داخبرکسری ته اورسیدو،کسری شهربرازته اولیکل چه زمادې خط ملاویدوسره خپل دارورقتل کړه اوددۀ سرماته راولیږه.شهربرازورته اولیکل چه اې بادشاه ته دومره تندی مه کوه،دفرحان په شان بهادراودزمری دجرات والا اوددشمن په ګنړه کښې ننوتونکې به ته بل بیانه مومې.بادشاه ورته بیا په جواب کښې اولیکل چه ددۀ نه زیات بهادراوشیردل پهلوان زمانه دربار کښې ډیونه یوزیات بهترموجوددی.ته ددې غم مه کوه،اوزمادحکم فوراً تعمیل اوکړه. شهر براز ورته بیا د دې جواب اولیکلواوپه دویم ځل ټي بادشاه کسری پوهه کړو،په دې باندې بادشاه دغصې نه لمبه شو ،هغۀ اعلان اوکړوچه دشهربرازنه ماسرداری واخسته اودهغۀ په ځائې دهغۀ رورفرخان مادخپل لښکر سپه سالارمقررکړو.اوهم ددې مضمون یوخط ټي اولیکلواوقاصدسره ټي شهربرازته اولیږلو،چه ته دنن نه معزول ټي،اوتۀ خپله عهده فرحان ته ورکړه.اوورسره ټي قاصدته ته یوپټ خط ورکړوچه کله شهربراز خپله عهده پریږدی اوفرخان دهغۀ په عهده راشی نوتۀ هغۀ ته زمادافرمان ورکړه،قاصدچه کله هلته اورسیدونوشهربرازدخط لوستوسره اووئیل چه ماته دبادشاه حکم منظوردی.زۀ په خوشحالئ سره خپله عهده فرخان ته ورکوم.نوهغۀ دتخت نه کوزشو،اوفرخان ته ټي قبضه ورکړه.فرخان چه کله دبادشاهئ په تخت باندې کښیناستواولښکراطاعت قبول کړونوقاصدهغه دویم خط دفرخان په وراندې پیش کړو.په کوم کښې چه دشهربرازدقتلولواودهغۀ دسردبادشاه دربارته دلیږلوفرمان وو.فرخان چه دا اولوستلو نو شهربراز ټي راوغوښتلواودهغۀ دقتلولوحکم ټي ورکړو. شهربرازورته اووئیل چه دومره تندی مه کوه،ماوصیت لیکلوته خوپریږده.هغۀ منظوره کړه،نو شهربراز خپل دفترراوغوښتواوهغه کاغذونه چه بادشاه کسری دفرخان دمرګ دپاره هغۀ ته لیکلې ووهغه ټول

Scanned with Ca

نې راوښکل اوفرخان ته نې وړاندې کړل.اوورته نې اوونیل چه اوګوره دومره سوال اوجواب زماادوبادشاه ترمینځه ستاپه باره کښې شوې وو، خو ما د عقل نه کارواخستواوتندی مې اوند کړه.اوتهٔ دیوخط کتوسره زمامرګ ته تیارشوې،لږ شان سوچ اوکړه ،ددې خطونولیدوسره دفرخان سترګې پرانستې شوې اوهغه فوراً دتخت نه کوزشواوخپل رور شهربراز ئې بیامالك جوړکړو. شهربرازهم هغه وخت شاه روم هرقل ته خط اولیکلوچه زهٔ تاسره پټ ملاقات کول غواړم،په یوه کار باندې مشوره کول دی.دانه خوزهٔ دځه قاصدپه ذریعه وئیلې شم اونه درته په خط کښې لیکلې شم.بلکه زهٔ داهم ستاپه وړاندې پیش کوم.پنځوس کسان دځان سره راوله اوپنځوس کسان به زماسره وی.

قیصرته چه کله داپیغام اورسیدونوهغهٔ دهٔ سره دملاقات دپاره راروان شو.لیکن داحتیاط دپاره نې دځان سره پنځه زره سوارهٔ کسان راوستل اودځان مخکښې ئې جاسوسان هم اولیږل چه کهٔ څه چل وی یاځه مکروی نوچه ښکاره شی.جاسوسان راغلل اوخبرئې ورکړوچه هیڅ خبره نشته،شهربرازیواځې دخپل ځان سره پنځوس سوارهٔ راوستې دی،اودهغهٔ سره نورهیڅوك نشته،نوقیصرهم مطمئن شو او خپل سوارهٔ ئې واپس کړل.اودخپل ځان سره ئې صرف پنځوس کسان اوساتل،کوم ځائې چه د ملاقات دپاره مقررشوې وو،هلته اورسیدل،هلته یوه ریښمینه قبه وه،دادواړه هلته یواځې کښیناستل،پنځوس کسان بیل پریښودې شو،دواړه هلته بې وسلې وو،صرف چهرې ورسره وې.اوددواړوطرفونه یو یو ترجمان هم ورسره وو.خیمې ته چه اورسیدل نوشهربرازورته اووئیل چه اې دروم بادشاه خبره داده چه ستاملك لره بربادونکی اوستالښکروته شکست ورکونکی مونږ دواړه رونړه یو.مونږ په خپله چالاکئ اونرتوب سره په دې ملك قبضه کړې ده.لیکن اوس زمونږ بادشاه کسری زمونږ سره حسدکوی.اوزمونږ مخالف جوړشوې دې.ماته هغهٔ زمادروردقتلولودپاره پیغام راولیږلو،ماهغه پیغام اونه منهٔ،نوهغهٔ په چالاکئ سره زمارورزمادقتل دپاره راولیږلو،ددې وجې نه مونږ دواړواوس دافیصله کړې ده چه مونږ به ستالښکرته راشواودکسری لښکروسره به ستادطرف نه جنګیږو،قیصرپه خوشحالئ سره داخبره منظور کړله،بیاد دواړو ترمینځه په اشارواشاروکښې خبرې اوشوې چه دهغې مطلب داووچه دادواړه ترجمانه قتل کړو،داسې اونه شی چه دارازښکاره شی.ځکه چه چرته ددوۀپه ځائې ددریوغورونوته یوه خبره اورسی نوهغه خوره شی.دواړوپه دې اتفاق اوکړواواودریدل،اوهریوپه خپله چاړه خپل ترجمان قتل کړو،بیاالله تعالی کسری هلاك کړو،اودحدیبیه په ورځ ددې خبررسول الله ﷺ ته ملاوشو.درسول الله ﷺ اصحاب په دې باندې ډیرزیات خوشحاله شو،داعجیبه تفصیل اوعجیبه خبره ده.

د ایتونو تشریح او د ورمیانو متعلق بحث:اوس دایت دالفاظوپه باره کښې واورئ،حروف مقطعه چه د سورتونو په شروع کښې وی دهغې بحث خو مونږ مخکښې کړې دې.دسوره بقرې شروع اوګورئ. رومیان ټول په ټوله دعیص ابن اسحاق بن ابراهیم دنسل نه دی،دوی دبنی اسرائیلودترهٔ ځامن دی. رومیانوته بنی اصفرهم وانی،دوی دیونانیانوپه مذهب باندې وو.یونانیان دیافث بن نوح داولادنه دی.دترکیانودترهٔ ځامن دی.دوی دستوروعبادت کونکی وو.او اوه واړه ستوری به نې منل اودهغې عبادت به ئې کولو،دوی ته متحیره هم وئیلې شی،دوی به قطب شمالی قبله ګنړله،ددمشق بنیاددوی دلاسه اوشو،دوی هلته خپله عبادت ګاه جوړه کړه،چه د هغې محرابونه دشمال طرف ته دی.دحضرت عیسی علیه السلام دنبوت نه پس تردې سوه کاله پورې دوی په خپلوزړوعقیدوباندې وو،په دوی که به چه څوك دشام اودجزیرې بادشاه شوهغهٔ ته به قیصرونیلې شو ،د ټولونه مخکښې درومیانوبادشاه قسطنطین ابن قسطس نصرانی مذهب قبول کړو،دهغهٔ دمورنوم مریم وو،هیلانیه غندقانیه وو.دحران اوسیدونکې وه.اول هغې نصرانیت قبول کړې وو،اودهغې په وئیلودهغې ځوی هم دامذهب قبول کړو،دې ډیرفلسفی،عقلمند،اومکارانسان وو.داهم مشهوره ده چه دهٔ په اصل کښې دزړهٔ نه دامذهب قبول کړې نه وو،ددهٔ په زمانه نصرانیان دلته راجمع شو،اوپه خپلوکښې مذهبی چهیړچهار،اختلافات،

اومناظري شروع شوي.دعبدالله بن اريوس سره لوي لوي مناظري اوشوي.اودومره ډيرګډوډي اوتفريق اوشو،چه دبيان نه بهرده.دري سوه اتلسوپادريانوپه شريکه يوکتاب اوليکلوچه بادشاه ته ورکړي شو،اوهغه شاهي عقيده اومنلي شوه.اوهم دي ته امانت کبرى وئيلي کيږي.چه په حقيقت کښې خيانت حقيره وو،هم دغه فقهي کتابونه په دغه زمانه کښې اوليکلي شو.دې کښې دحلال اوحرام مسئلې بيان شوي.اوددوى عالمانوچه څه غوښتل په هغې کښې اوليکل،چه څومره ئې په زړۀ کښې راتلل کمې زياتې،په اصلى دين مسيح کښې اواصلى مذهب کښې تحريف اوتبديلى اوشو.دنمرخاتۀ طرف ته مونځونه کول شروع شو.دهفتې ورځې په خائې ئې د اتوار ورځ لويه جوړه کړله.دصليب عبادت شروع شو.خنزيرحلال اوګرځولې شو،اوډيرتهوارونه ايجادکړې شو .لکه عيدصليب،عيدغطاس،وغيره وغيره.بياددې عالمانوسلسلې قائمې کړې شوې،چه يوخوبه لوي پادرى وو،بيادهغۀ نه لاندې درجه په درجه به محکمې وې.رهبانيت اودترک دنيابدعت ايجادکړې شو.کنيسې اوګرجې ډيرې جوړې کړې شوې.اودقسطنطينه ښاربنيادکيښودې شو.او ددې لوي ښارنوم هم دبادشاه په نوم باندې کيښودې شو.دې بادشاه دولس زره ګرجې جوړې کړې.ددريومحرابونو بيت لحم جوړشو.ددۀ مورهم قمامه جوړه کړه.دې خلقوته ملکيه وائى،خکه چه داخلق دخپل بادشاه په دين باندې وو.ددې نه پس يعقوبيه،بيانسطوريه،دوى دنسطورمقلدوو.بياددوى نورې ډيرې ډلې وې.ځنګه چه په حديث کښې دى.چه ددوى دوه اويا ډلې شوې.ددوى بادشاهى برابرراروانه وه.ديونه پس بل قيصر به راتلو،تردې پورې چه اخرى قيصرهرقل شو.دې دټولوبادشاهانونه زيات عقلمنداوعالم وو.هوښيار، دوراندېش،اوترلرې پورې ليدوکښې ئې خپله ثانى نه لرله.دۀ سلطنت ډيرزيات وسيع کړو،اومملکت ئې ترلرې لرې پورې خورکړو.ددۀ په مقابله کښې فارس بادشاه کسرى اودريدو،اووړو وړوبادشاهوهم ددۀ ملګرتياوکړه.ددۀ بادشاهى دقيصرنه هم زياته لويه وه.داخلق مجوسيان وو.داورعبادت به ئې کولو.په پورتنى روايت کښې خودى چه ددۀ سپه سالارددۀ مقابلې ته راغې.

دکسرى او قيصر صلح اود قيصر چالاکى:ليکن مشهوره خبره داده چه پخپله کسرى ددۀ مقابلې ته راغې، قيصرته شکست اوشو.اوهغه په قسطنطنيه کښې ګيرشو.نصرانيانودهغۀ ډيرزيات عزت کولو.اګرچه کسرى ترډيرې مودې پورې دهغۀ محاصره اوکړله خودارالسلطنت ئې فتح نه کړې شو.ددې يوه وجه داوه چه ددې ښارنيمه برخه د سمندرطرف ته وه.اونيمه اوچې سره لږدلې وه.نوبادشاه قيصرته به مدداوسامان دسمندرپه لاره برابر ملاويدو.په اخره کښې قيصريوچال اوکړو.هغۀ کسرى ته جواب اوليږلوچه تۀ څه غواړې زمانه واخله. او په کوموشرطونوچه غواړې زماسره صلح اوکړه.کسرى په دې باندې خوشحاله شو.اودومره مال ئې ترې اوغوښتوچه هغۀ اودۀ کۀ په شريکه دامال راجمع کول غوښتل نوهم راجمع کول ئې ممکن نه وو. قيصر دا قبوله کړه.خکه چه هغۀ دې سره دکسرى دبې وقوفئ پته اولګوله.چه دې هغه څيزغواړى چه دهغې جمع کول ددنياداختيارنه بهردى.بلکه که ټوله دنياراجمع شى نوددې لسمه حصه هم جمع کولې نه شى.قيصرکسرى ته خبراوليږلوچه ماته اجازت ملاويدل پکاردى چه زۀ په خپل ملک شام کښې اوګرځم اودا دولت راجمع کړم.اوتاته ئې حواله کړم.هغۀ دادرخواست منظورکړو.اوس دروم بادشاه خپل لښکر راجمع کړو،اوهغوى ته ئې اووئيل چه زۀ ديوضرورى اواهم کاردپاره دخپلوخپلوانوسره خم،که په يوکال کښې دننه راغلم نودامملک زمادې.ګنى تاسوته اختياردې چه څوک موخوښ وى خپل بادشاه ئې مقرر کړئ. هغوى ورته جواب ورکړوچه زمونږ بادشاه خوهم تۀ ئې،خواه که ترلسوکالوپورې هم واپس نه شې نوځه اوشو.دۀ ددې خائې يومختصرشان دجانبازانوډله دخان سره کړه اوچپ چاپ اووتو.په پټولارو باندې ډيرپه هوښيارتيا ،چالاکئ، اواحتياط سره ډيرزردفارس ښارونوتۀ اورسيدو.اوناګهانه ئې پرې حمله اوکړه.چونکه ددې خائې فوځونه خوروم تۀ تلې وو،عواموپه ترکومې پورې مقابله کوله.هغۀ قتل عام شروع کړو،اوځوک چه ورته مخامخ راغلل

نودتوري لاندې ئې کړل.اوهم هغسې روان وو،تردې پورې چه مدائن ته اورسيدو،چه دکسرى دسلطنت کرسئ وه.دهغۀ ځائې حفاظت کونکى فوځ باندې هم غالب راغې اوهغوى ئې قتل کړل.

کسرى ته د قيصر خط::اودخلورواړوطرفونه ئې مال جمع کړو.اودهغوى ټولې ښځې ئې قيدکړې اوټول جنګيدونکى ئې قتل کړل.دکسرى خوې ئې ژوندې ګرفتارکړو.دهغۀ دمحل سراء ښځې ئې ژوندې ګرفتارې کړې،اوددرباريښځې هم اونيولې شوې،اودهغۀ هلك سرګنجې کړې شواوپه خريداندې سورسره دښځوئې دکسرى طرف ته اوليږلو.اوورته ئې اووئيل چه واخله کوم مال اوښځې اوغلامان چه تاغوښتل هغه حاضردى.کله چه داقافله کسرى ته اورسيده نوکسرى ډيرزيات خفه شو.دۀ تراوسه پورې دقسطنطيه محاصره کړې وه پروت وو.اودقيصردواپسئ انتظارئې کولو،چه دۀ ته ددۀ ټول خاندان اوحرم سراء دداسې ذلت په حالت کښې راورسيدۀ.دې سخت غضبناك شو،اوډيرسخته حمله ئې په ښاريانداې اوکړه.ليکن په هغې ورته کاميابى ملاونه شوه.اوس دې دنهرجيجون طرف ته لاړۀ.چه قيصرهلته حصارکړى،ځکه چه فارس نه دقسطنطنيه نه د راتلوهم دغه يوه لاره وه.

د قيصر بله چالاکى:: قيصرچه داواوريدل نودمخکښې نه ئې يوه زبردسته دهوکه اوکړه.يعنى خپل لښکر دسيندددهانې په خواکښې يريخودۀ،اوپه خپله څه لږ شان کسان ئې دځان سره بوتلل او دابو د بهيدو په طرف روان شو. د يوورځ دمنزل کولونه پس هغۀ چه دځان سره کوم کند،خاشنړۀ،اوسوتې وغيره راوړې وې هغه ئې په اوبوکښې لاهوکړې.داځيزونه په اوبوکښې بهيدل اودکسرى دلښکرپه خواکښې تيرشو.توهغوى پوهه شوچه قيصرپه دې ځائې باندې تيرشو.دادهغۀ دځناورواثاردى.اوس قيصرواپس خپل لښکرته راغې او کسرى دهغۀ په لټون کښې مخکښې لاړو.قيصرسره دخپله لښکره دجيحون دهانه باندې پوريوتواولاړه ئې بدله کړه اوقسطنطنيه ته اورسيدو.په کوم ورځ چه دې خپل دارالسلطنت ته اورسيدو نصرانيانو ډيرې زياتې خوشحالئ اوکړې.

کسرير کډوډ شو او قيصر غالب شو::کسرى ته چه کله دااطلاع ملاوشوه نودهغۀ عجيبه حال شو، د تيختې لاره ورسره نه وه،نه ئې روم فتح کړې شواونه ورسره فارس پاتې شو.په حيرانتياکښې پاتې شو. او رومیان غالب شول.دفارس ښځې اودهغۀ ځائې مال دهغوى په قبضه کښې راغې،داټول کارونه په نهه کاله کښې اوشو.اورومیانوخپل بيللې ملك دفارسيانونه دوباره واخستو،اومغلوبه شوې بياغالبه شو. دا ذرعات اوبصرى په معرکوکښې فارس والا غالب شوې وو،دادملك شام هغه حصه وه چه دحجازسره ملاويده.داقول هم دې چه داشکست ورته په جزيرۀ کښې شوې وو،چه درومیانودسرحدمقام وواو د فارس سره ملاويدو.والله اعلم.بياپه نهه کاله کښې دننه دننه رومیان په فارس باندې غالب شو.

په قران کريم کښې د(**بضع**)لفظ دې.اوددې اطلاق په نهه باندې کيږى.اوهم دغه تفسيرددې لفظ په ترمذى اوابن جريروالا حديث کښې دى.حضوراکرمﷺحضرت صديقؓته اوفرمائيل چه تاله احتياطاً لس کاله کيښودل پکاروو.ځکه (**بضع**) لفظ اطلاق دريونه واخله ترنهوپورې باندې کيږى.ددې نه پس (**قبل**) او(**بعد**)باندې پيش اضافت لرې کولودوجې نه دى.يعنى ددې نه مخکښې اوددې نه پس حکم هم د الله تعالى دې.په هغه ورځ په کومه چه روم په فارس باندې غالب شى مسلمانان به خوشحالئ کوى.

اياد روم غلبه د بدر په ورځ وه؟::دا کثروعالمانوقول دې چه دبدردجنګ په ورځ رومیان په فارس باندې غالب راغلې وو.ابن عباس ؓ،سدى ثورى اوابوسعيد هم دغه فرمائى.دهوې ډلې خيال دې چه غلبه دحديبيه په کال باندې شوې وه.عکرمهؓ،زهرى اوقتاده وغيره هم دغه قول دې.بعضوددې توجيه دابيان کړې ده چه قيصرروم نذرمنلې ووچه که الله تعالى دې په فارس باندې غالب کړونودې به ددې دشکرپې په طورپياده بيت المقدس ته خى.چنانچه هغۀ نذرپوره کړواوبيت المقدس ته لاړو.دې هم دلته ووچه دحضورﷺخط مبارك ورته اورسيدۀ،چه حضورﷺدحضرت کلبىؓ په معرفت سره دبصرې

کورنرته لیږلې وو،اوهغه هرقل ته اورسولو،هرقل ته چه څنګه دحضورﷺخط مبارک ملاوشونوپه شام کښې چه کوم دحجازی عرب ووهغوی ئې ځان ته راوغوښتل.په دوی کښې ابوسفیان،صخرین حرب اموی هم وو.اوپکښې نورهم دقریشوعزتمندخلق موجودوو.هغه ټول خپل مخې ته کښینول اوتپوس ئې تری اوکړو.چه په تاسوکښې دهغه دټولونه نزدې رشته دارځوک دې؟چاچه دنبوت دعوی کړې ده.ابوسفیان ورته اووئیل زه یم.بادشاه هغه مخکښې کښینولواودهغه ملګری ئې دهغه شاته کښینول.اوهغوی ته ئې اووئیل چه ګورئ زه ددې کس نه څو تپوسونه کوم که دې دځه خبرې غلط جواب راکړی نوتاسوددۀ دروغ ښکاره کوئ.دابوسفیان قول دې چه که ماسره ددې خبرې ویره نه وې چه کۀ زۀ دروغ اووائیم نوداخلق به ظاهرکړی اوبیابه ددې دروغونسبت زماطرف ته کوی نومابه یقیناً دروغ وئیلې وې.اوس تری هرقل ډیرتپوسونه اوکړل.مثلاًدحضورﷺدحسب نسب په باره کښې، د حضورﷺداوصافواوعاداتوپه باره کښې وغیره وغیره.پدې کښې یوسوال داهم چه ایاهغه غداری کوی؟ ابوسفیان ورته اووئیل چه ترننه پورې خوهغۀ کله بدعهدی،وعده خلافی اوغداری نه ده کړې.په دې وخت کښې زمونږ دهغۀ سره یوه معاهده ده.پته نشته چه هغه به په دې کښې څه کوی؟دابوسفیان ددې قول نه مرادصلح حدیبیه ده،په کومه چه دحضورﷺاودقریشوترمینځه داخبره مقررشوې وه،چه تر لسو کالو پورې به په خپل مینځ کښې هیڅ جنګ نه کوو.داواقعه په دې قول باندې پوره دلیل جوړیدې شی چه رومیان په فارس باندې دحدیبیه په کال باندې غالب راغلې وو.ځکه چه قیصرخپل نذردحدیبیې نه پس پوره کړې وو،والله اعلم.خوددې جواب هغه خلق څوک چه وائی چه دروم په فارس باندې غلبه دبدرپه کال کښې شوې وه د اور کولې شی چه چونکه دملك اقتصادی اومالی حالت ډیرزیات پریوتې وو،ددې وجې نه تر څلورو کالو پورې قیصرخپله پوره توجه دملك خوشحالئ اوسوکالئ ته ورکړه.ددې نه پس ددې طرف نه اطمینان کیدونه پس هغۀ خپل نذرپوره کولودپاره روان شو.والله اعلم.

قوله تعالی:: وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ۝

د مسلمانانو د رومیانو په فتح خوشحالی او ددې وجه:: دا اختلاف څه داسې خاص خبره نه ده، او مسلمانان دروميانوپه غلبه باندې خوشحاله شوځکه چه که هغوی هرڅنګه ووبیاهم هغوی اهل کتاب وو. او د هغوی په مقابله کښې دمجوسیانوډله وه،چه دهغوی دکتاب سره هیڅ قسمه تعلق نه وو.نولازمی خبره وه چه مسلمانان به دهغوی په غلبه باندې خفه وو،اودرومیانوپه غلبه باندې به خوشحاله وو.په خپله په قران کښې موجوددی چه دایمان والودټولونه زیات دشمنان یهوداومشرکان دی.اوددوی په دوستئ ساتلو کښې هغه کسان دټولونه وړاندې دی چه خپل ځان ته نصاری وائی،ځکه چه په دوی کښې عالمان اودرویش خلق دی اوتکبرنه کوی.دقران په اوریدوسره دوی په ژړاشی،ځکه چه په حق باندې پوهه شی،بیااقرارکوی چه ای الله،مونږ ایمان راوړوتۀ مونږ هم په منونکو کښې شمارکړه.پس دلته ئې هم اوفرمائیل چه مسلمانان به په دې ورځ خوشحاله وی.هغه چه دچاغواړی مددکوی،هغه ډیرغالب ډیرلوې مهربانه دې.

حضرت زبیرکلابیؓفرمائی چه مادفارسیانوپه رومیانوباندې غالب کیدل،بیادرومیانوپه فارسیانو باندې غالب کیدل،بیاپه روم اوفارس دواړوباندې دمسلمانانوغالب کیدل په خپلو سترګو د پنځلسو کالو دننه دننه اولیدل.په اخری ایت کښې ئې اوفرمائیل الله تعالی دخپلودشمنانونه په بدله اخستلو باندې قادراودخپلودوستانو خطاګانوګناهونومعاف کولووالادې.کوم خبرچه تاسوته درکړې شوې دې چه رومیان به ډیرزرپه فارس باندې غالب شی دالله ﷻ خبردې،دالله تعالی وعده ده، دا د پروردګار فیصله ده،دانامکنه ده چه غلطه شی،اونه شی یابدله شی.څوک چه دحق سره نزدې وی الله تعالی هغه هم دالله تعالی نه لری خلقوباندې غالبه کوی.اودالله تعالی حکمتونوباندې کم علمه خلق پوهیدې نه شی.اکثرخلق ددنیاعلم خوښه لری،دهغې مشکلات په منټونوکښې ختموی،په دې کښې

نبه دماغ جنګوی،ددې نبه بد،نفع نقصان ډیرښه پیژنی،په یونظر ددې نبه بداوپیژنی، د دنیا د ګټلو،د پیسو دجمع کولوپه چل باندې نبه پوهیږی،خوددین په کارونوکښې،ډیرزیات جاهل،کم عقل،اوکم فهم وی.دلته ئې نه دماغ کارکوی،نه ئې په پوهه کښې راځی،اونه پکښې دغوراوفکرعادت وی،حضرت حسن بصری فرمائی،ډیرداسې هم شته چه مونځ هم ټیك نه شی کولی،خودرهم چه په لاس کښې اونیسی نوفورائې وزن به درته اوښائی.ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ددنیادابادئ،ددې د خوندونو، مزوپه سوونوصورتونه ددوی په ذهن کښې راځی،خوپه دین کښې بالکل جاهل،اوداخرت نه بالکل غافل دی.

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا	
ایا اونۀ کړو فکر دې خلقو په نفسونو خپلو کښې ایا دوئ په خپلو زړونو کښې دا فکر نه دې کړې نۀ دی پیدا کړی الله اسمانونه او زمکه او هغه چې په مینځ ددې دواړو کښې دی مګر	
چې الله ﷻ اسمانونه او زمکه اوددې دواړو په مینځ کښې چې کوم څیزونه دی هغه عبث نه دی	
بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَاءِ	
په حقه سره او دنیټې مقرر سره او بیشکه ډیر دخلقو نه په ملاقات	
پیدا کړې ابلکه دیو حکمت دلاندې اودیوې مقررې نیټې دپاره پیدا شوی دی اوډیر خلق هډو دخپل رب	
رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ ۝ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا	
درب خپل سره خامخا منکر دی ایا نۀ ګرزی دوئ په زمکه کښې چې اوګوری	
سره دملاقات کیدو نه منکر دی ایا دوئ په زمکه کښې نه دی ګرځیدلی چې اوګوری	
كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا	
چې څرنګې وو انجام دهغه کسانو چې مخکښې ددوئ نه وو وو هغوئ	
چې ددوئ نه وړاندینو خلقو انجام څه شو؟ هغوئ (خو) ددوئ نه په طاقت کښې زیات وو	
أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا الْأَرْضَ وَعَمَرُوهَا	
زیات سخت ددوئ نه په لحاظ دطاقت سره اوارولی ئې وه زمکه او اباده کړې ئې وه هغه	
او په زمکه کښې ئې کرونده هم ډیره کړې وه او څومره چې ئې دوئ اباده کړې ده	
أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ۖ	
زیاته دهغې نه چې اباده کړی ده دوئ ورغلی ووهغوئ ته رسولان دهغوئ دروښانه نښو سره	
ددې نه ډیره زیاته هغوی اباده کړې وه او هغوئ ته خپلو پیغمبرانو معجزې راوړلې وې	
فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ	
پس نۀ وو الله چې ظلم ئې کوؤ په هغوئ باندې ولیکن ووهغوئ په خانونو خپلو باندې	
اوالله ﷻ وربانديې ظلم نه کولو خو هغوئ به پخپلو خانونو ظلم کولو	

يَظْلِمُونَ ۝	ثُمَّ كَانَ	عَاقِبَةَ الَّذِينَ	أَسَاءُوا	السُّوأَىٰ
چې ظلم ئې کوؤ	ا بیاشو	ا انجام دهغه کسانو	ا چې بد ئې کړې ووؤ	ا ډیر بد
بیا کومو خلقو چې بدکارونه اوکړل ا د هغوئ انجام ډیر بد شو ا ځکه چې هغوئ د الله ﷻ				
أَن كَذَّبُوا	بِآيَاتِ اللَّهِ	وَكَانُوا	بِهَا	يَسْتَهْزِئُونَ ۝
په دې وجه چې دروغ ئې ګڼلی ووؤ ا ایتونه دالله ا ووؤ هغوئ ا په هغې پورې ا چې توقې به ئې کولې				
ایتونه دروغ اوګڼل ا .....او په هغې پورې به ئې خندا ګانې کولې ا				

قوله تعالی:: أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِمْ

دالله تعالی په نشاناتو کښې غوراوفکرکولو:- چونکه دکائنات ذره ذره دالله تعالی دقدرت نشان دې، او د هغۀ په توحیداوربوبیت باندې دلالت کوی.ددې وجې نه ارشادکیږی چه په موجوداتوکښې غور او فکر کوئ اودالله تعالی دقدرت دې نشاناتوسره خپل مالك اوپیژنئ،اودهغۀ قدراوتعظیم کوئ،کله عالم علوی ته ګورئ اوکله په عالم سفلی باندې نظراچوئ،اودمخلوقات په پیدائش باندې سوچ کوئ ،او پوهه شئ چه داخیزونه عبث اوبیکاره نه دی پیداکړې شوې،بلکه الله تعالی دادکاروالا اودخپل قدرت نشان جوړکړی دی.دهریویووخت مقرردې.یعنی دقیامت ورځ،کوم چه اکثرخلق منی هم نۀ.

قوله تعالی:: أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

د مخکښینو قومونو د هلاکتونو نه عبرت اخستل پکار دی:: ددې نه پس دنبیانوصداقت داسې ظاهروی چه اوګورئ ددوی دمخالفین انجام څومره عبرتناك شو؟ او د هغوی منونکوته څنګه ددواړوجهانوعزت ملاوشو.تاسواوګرځئ راوګرځئ اوتیرشوې واقعات معلوم کړئ چه تیرشوی امتونه چه ستاسونه دزیات طاقت والا وواوستاسونه ورسره زیات مال اودولت وو، ستاسونه زیات دقبیلې اوځامنواونمسووالا وو. تاسودهغوی لسمې حصې ته هم نه ئې رسیدلې،هغوی ستاسونه دزیات عمروالا وو،ستاسونه زیاتې ابادئ هغوی کړې وې،ستاسونه زیات پتې اوباغونه د هغوی وو،ددې باوجودچه کله هغوی ته دخپل وخت نبی راغې هغوی ته ئې دلیلونه اومعجزات اوښودل،اوبیاهم دهغې زمانې بدنصیبودهغۀ اونه منل اوپه خپلوسوچونوکښې ډوب وو،اوپه بدو کارونو کښې مشغول وو،نواخرداالله تعالی عذاب په هغوی باندې نازل شو،هغه وخت هیڅوك نه ووچه دوی ئې بچ کړې وې.یایوعذاب ئې ددوی نه لرې کړې وې.دالله تعالی ذات ددې نه پاك دې،چه هغه په خپلو بندګانوباندې ظلم اوکړی،داعذاب خو د هغوی دخپلوبدوکارونوانجام وو.دالله تعالی ایتونه دوی نه منل،دالله تعالی خبروپورې به ئې توقې کولې،څنګه چه په بل ایت کښې دی چه ددوی دبې ایمانئ په وجه مونږ ددوی زړونه اوددوی نظرونه لره اوګرځول،اودوی موپه خپله سرکشئ کښې حیران پریښودل .په بل ایت کښې دی چه ددوی کوږوالی دوجې نه الله تعالی ددوی زړونه کاږۀ کړل.په بل ایت کښې دی چه کۀ اوس هم مخ اوګرځوی نوپوهه شه چه الله تعالی دوی لره ددوی په بعضوګناهونوباندې دنیولواراده کړې ده.ددې په وجه (**السواى**) به منسوب وی(اساءوا)مفعول به شی.اوداقول هم دې چه سوآی دلته داسې واقع ده چه بدی ددوی انجام شوه،ځکه چه دوی دالله تعالی ایتونولره نه منونکی اوهغې پورې توقې کونکی وو.نوددې معنی په روسره دالفظ به منصوب وی.(**کان**)خبر دې وی.امام ابن جریر هم دغه توجیه بیان کړې ده.اودحضرت ابن عباس ؓاوقتاده ؒنه هم نقل ده.ضحاك هم دغه فرمائی اوظاهرهم دغه دې،ددې نه پس (كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ۝) دې.

Scanned with Ca

اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ

خاص الله | شروع کوی | دپیداوښت | بیا | به هم هغه دوباره پیدا کوی دغه پیداوښت | بیا به

هم الله ﷻ مخلوق په اول خل پیدا کوی | بیا په دوئم خل به ئې هم پیدا کوی | بیا به

اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

هم هغه ته | واپس کړې شئ تاسو | او په کومه ورځ | چې قائم شی (راشی) | هغه ساعت (قیامت)

هم د هغه طرفته تاسو واپس کیږئ | او په کومه ورځ چې قیامت راشی

يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ

نوناامید به حیران پاتې شی | مجرمان خلق | اونۀ به وی | دپاره دهغوئ | دشریکانو دهغوئ نه

نومجرمان به ناامیده شی | اود دوئ په جوړ کړو شریکانو کښې به هیڅوک سفارشی پیدا

شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ

سفارشیان | اووئ به هغوئ | دشریکانو خپلو نه | منکر | اوپه کومه ورځ | چې قائیم شی (راشی)

نشی | اودوئ به دخپلو شریکانو نه (په خپله) منکر شی | او په کومه ورځ چې قیامت راشی

السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

قیامت | هم په دغه ورځ به | په جدا جدا | ډلو کښې تقسیم شی دا خلق | پس هر چې دی هغه کسان

نو په هغه ورځ به دا خلق جدا جدا (ټولی) شی | .....نوچا چې ایمان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ

چې ایمان ئې راوړې دې | او عملونه ئې کړی دی | نیك | پس هغوئ به | په یو باغ کښې

راوړې وی | او ښه کارونه ئې کړی وو | نو هغوئ به (دجنت) په باغ کښې

يُّحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

خوشحاله ساتلې کیږی | او هر چې دی هغه کسان | چې کفر ئې کړې دې | او دروغ ئې ګڼلی دی

خوشحاله وی | .....اوچا چې کفر (غوره) کړې وو | او زمونږ ایتونه اوداخرت راتلل ئې

بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾

ایتونه زمونږ | او ملاقات داخرت | پس دا کسان به | په عذاب کښې | حاضر ساتلې کیږی

دروغ ګڼلی وو | نو هغوئ به په عذاب کښې (ګرفتار) حاضرولې شی

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ

پس تسبیح وایئ دالله | په هغه وخت کښې | چې داخلیږئ تاسو په شپه کښې | او په هغه وخت کښې

نوتاسو دمابنام او سحر په وختونو کښې دالله ﷻ پاکی بیانوئ

تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

چې داخلیږئ تاسو په صبا کښې | او هغه لره | ثناده | په آسمانونو کښې | او په زمکه کښې

..... اوپه آسمانونو اوپه زمکه کښې هم دهغه تعریف دې

وَعَشِيًّا	وَّحِيْنَ	تُظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾
او (تسبیح وایی) په آخر دورځ کښې | او په هغه وخت کښې | چې داخلیږئ تاسو په ماسپخین کښې		
او دهغه تسبیح کوئی | او دورځې په آخری وخت کښې | اود ماسپخین		
يُخْرِجُ الْحَيَّ	مِنَ الْمَيِّتِ	وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ
رااوباسی هغه | ژوندې | دمړنه | او رااوباسی هغه مړ | دژوندی نه | او ژوندئ کوی		
هغه دمړی نه ژوندې راوباسی | او دژوندی نه مړې | او زمکه د مړه کیدو		
الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ	وَكَذٰلِكَ	تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾ ع
زمکه | روستو | دمړک دهغې نه |او همدارنګې |تاسو به ایستلې کیږئ |		
نه پس بیا راژوندئ کوی | او دغه شان به تاسوهم راوویستلې شئ |		

قوله تعالی:: اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ

مبداء د مخلوقاتو او معادو دواړه یو شان دی:- دالله تعالی فرمان دې چه دټولومخکښې مخلوقات هم دغې الله تعالی پیداکړی دی.اوځرنګه چه هغه ددې په پیداکولوباندې هغه وخت قادروو،نواوس د فنا کیدونه پس په پیداکولوباندې هم دغه شان بلکه ددې نه زیات قادردې.تاسوټول دقیامت په ورځ دهغۀ په وړاندې پیش کیدونکی ئې،هلته به هغه هریوته دخپلواعمالوبدله ورکړی.دقیامت په ورځ به ګناهګاران ناامیده،رسوا اوخاموش شی.دالله تعالی نه علاوه چه په دنیاکښې ئې دچاچاعبادت کولوپه هغوی کښې یوهم به ددوی دسفارش دپاره اونه دریږی.اوهرکله چه دوی دهغوی پوره پوره محتاجه وی هغوی به ترې بالکل مخونه اوګرځوی.اوپه خپله ددوی باطل معبودان به هم ددوی نه بیزاره شی اودوی ته به صفاصفااووائی چه په مونږ اودوی کښې هیڅ تعلق نشته.

دقیامت په ورځې به داعمالومطابق فیصلې وی ::دقیامت دقائمیدوسره به داسې جدا جدا شی چه دهغې نه پس ملاویدل هډوشته نۀ.نیک خلق خوبه (**علیین**)ته اورسولې شی،اوبدخلق به (**سجین**)کښې داخل کړې شی.هغوی به دټولونه په اعلی اوچتوالی کښې وی،اودوی به دټولونه زیات په پستئ کښې وی.بیاددې ایت تفصیل بیانیږی چه نیک نفسونه خوبه په جنت خوشحاله وی اوکافران به په دوزخ کښې سوزیږی.

دهرقدرت مالک الله تعالی دی:-ددې رب تبارك وتعالی په کمال قدرت باندې اوعظمت اوسلطنت باندې دلالت دهغۀ تسبیح اودهغۀ حمددې.دکوم طرف ته چه الله تعالی دخپلو بندګانو رهبری کوی. اوخپل پاك کیدل اوقابل دحمدکیدل بیانوی.دمابنام په وخت کښې هرکله چه شپه دخپل ځان سره تیارې راوړی.اودسحرپه وخت کښې هرکله چه سحردخپل ځان سره رنړاګانې راوړی،ددومره بیانولونه پس والله جمله بیانولونه مخکښې ئې داظاهره کړه چه په زمکه اواسمان کښې دحمداو ثناء قابل هم هغه دی.ددوی پیدائش په خپله باندې دهغۀ په بزرګئ باندې دلیل دی.بیادسحراومابنام په وخت کښې دتسبیح بیان چه مخکښې تیرشوې وو،دهغې سره ئې دماسخوتن اوماسپخین وخت یوځائې کړو،چه دپوره تیارې اوکاملې رنړاوخت وی.بیشکه ټوله پاکی دهغۀ دپاره ده.اوځوك چه دشپې تیارولره اوورځې رنړاګانولره پیداکونکې دی،دسحردظاهرولووالا اوشپې لره دسکون نه ډکه جوړولو والا دی.ددې په شان نورهم ډیرایتونه دی.﴿ وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰىهَا ۙ وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ۙ ﴾ او﴿ وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ۙ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ۙ ﴾ او﴿ وَالضُّحٰى ۙ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۙ ﴾ وغیره.

قوله تعالی:: فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ
د الله تعالی د تسبیح او د کامل قدرت بیان: دمسند احمد په حدیث کښې دی چه حضور اکرم ﷺ اوفرمائیل، تاسوته اووائیم چه الله تعالی دحضرت ابراهیم علیه السلام نوم خلیل اووفادارولې کیښودې وو؟ ځکه چه هغۀ به په سحر اومابنام کښې دا کلمات وئیل، بیاحضور ﷺ (فسبحان الله) نه (تظهرون) پورې دواړه ایتونه تلاوت اوفرمائیل. دطبرانی په حدیث کښې ددې دواړوایتونوپه حقله دی چه چادسحر اومابنام په وخت کښې دادواړه ایتونه اووئیل هغۀ دشپې اوورځې په وخت کښې دهغۀ نه چه څه قضاشوې ووبیاموندل. بیانی بیان اوفرمائیلو، چه دمرګ اوژوندخالق ،دمړې نه ژوندې پیداکول، اودژوندونه مړې راویستلووالا هم هغه دې. په هرځیزاودهغې په ضدباندې هغه قادردې. ددانې نه اونه، داونې نه دانه، د چرګې نه هګئی، اود هګئی نه چرګه، دنطفې نه انسان، اودانسان نه نطفه ،د مومن نه کافر، اود کافر نه مومن، غرض په هرځیزباندې اودهغې په ضدباندې هغۀ ته مکمل قدرت حاصل دې. اوچه زمکې نه هم هغه تری (لوندوالې) ورکوی. دشارې زمکې نه هم شنۀ فصلونه زرغونوی. څنګه چه ئې په سوره یاسین کښې اوفرمائیل چه داوچې زمکې تروتازه کیدل اوبیادهغې نه قسماقسم میوه جات پیداکول هم زمادقدرت کامل نشان دې. په بل ایت کښې دی چه تاسوورته ګورئ چه هغه زمکه چه دوړې تړې اوچتیږی هغه په اوبوسره لمده کړی اوشینکې په کښې زرغون کړی. اودهرقسمه پیداوارسره هغه شنۀ کړم. په نوروهم ډیروایتونو کښې ددې په شان مضمون چرته په تفصیل سره اوچرته مجمل بیان اوفرمائیلو. دلته ئې اوفرمائیل چه هم دغه شان به تاسودمرګ نه پس دقبرونونه به بیا ژوندی کړې شئ اواوبه درولې شئ.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ
اودنښو دهغه نه(یوه داده)
اودهغه بله نښه دا وی | چې
اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ۝
چې پیدائې کړئ تاسو | دخاورې نه | بیا | دادې تاسو | یو بشر یئ | چې روروخوریږئ (په زمکه کښې)
تاسو ئې د ښاورې نه پیدا کړئ | نو په لږو ورځو کښې (سم دم) سړی شوئ | چې خواره واره ګرځئ
وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ
او دنښودهغه نه (یوه داده) | چې پیدا کړی هغه | ستاسو دپاره | دنفسونو (یعنی جنس) ستاسو نه |
اودهغه په نښو کښې یوه داده | چې تاسو له ئې ستاسو دخپل جنس نه جوړې راپیدا کړی دی
اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ
ښځې | دپاره ددې چې تاسو سکون حاصل کړئ | دهغې سره | او پیدا ئې کړو | په منځ ستاسو کښې
چې ارام ورسره بیاموئ | اوستاسو د (ښځې خاوند) په مینځ کښې ئې مینه اوهمدردی
مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝
مینه | او رحمت | بیشکه په دې کښې | خامخا نښې دی | دپاره د هغه قوم | چې غور فکر کوی |
پیداکړه | په دې کښې د هغه خلقو دپاره نښې پرتې دی | چې د فکر نه کار اخلی

قوله تعالی:: وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ

په توحیدباندې نفسی دلائل:- فرمائی چه دالله تعالی دقدرت دپې شمیره نشاناتونه یوه نشانه داهم ده چه هغۀ ستاسوپلارحضرت ادمؑ دخاورې نه پیداکړو،تاسوټول ئې دهغۀ پې قیمته اوبودځاځکی نه پیدا کړئ.بیائې ستاسودیرښکلی صورتونه جوړکړل. دنطفې نه دټینګې وینې په شکل،بیادغوښې د توکړې په صورت اوبیائې درله هډوکی پیداکړل.اوهډوکوته ئې غوه ښه واغوستله،بیادرکښې روح واچولو، سترګی،پوزه،اوغوږونه درله ئې پیداکړل.دمورد خیټې نه ئې په سلامتیا سره پیدا کړې. بیا کمزورې ئې درله په طاقت کښې بدله کړه.ورځ په ورځ طاقتوراومضبوط قدوالا او زورئې درکړو.عمر ئې درکړو،د حرکت اوسکون طاقت ئې درکړو،اواسباب اوالات ئې درکړل،اودټولو مخلوقاتو سردارئې جوړ کړئ،داخوادیخواتګ دپاره ئې دتلواسباب درکړل،دسمندرونو اواوچې مختلف قسمه سورلئ ئې درکړې. عقل،علم،سوچ پوهه،تدبر،غوردپاره ئې زړۀ اودماغ درکړل،اوددنیاپه کارونوئې پوهه کړئ. رزق اوعزت حاصلولوطریقې ئې درته اوښودلې،اوورسره ئې داخرت دښکلی کولودپاره علم اوعمل درته اوښودلو.پاک دې هغه الله تعالی چه دهرڅیزصحیح اندازه لګوی،اوهریوپه یوه مرتبه باندې ساتی. په شکل اوصورت کښې،په خبرواترو کښې، مالداریئ فقیریئ کښې،عقل اوهنرکښې،ښه والی بدوالی کښې،سعادت اوشقاوت کښې،هریوئې جداکړو،چه هرکس دالله تعالی ډیرنشانات په خپل ځان کښې اوپه نوروکښې اووینی.

ادم ؑ دټولې زمکې د نچونړنه پیدا دې:: دمسندامام احمدپه حدیث کښې دی چه رسول کریمﷺ اوفرمانیل، الله تعالی دټولې زمکې نه یو موټې خاوره واخسته اودهغې نه ئې حضرت ادمؑ پیداکړو. پس دزمکې د مختلفوحصوپه شان دادمؑ داولادمختلف رنګونه شو.څوک سپین،څوک سور،څوک تور، څوک خبیث، څوک طیب،څوک خوش اخلاق،څوک بداخلاق،وغیره،بیافرمائی چه دالله تعالی د قدرت یونخښه داهم ده چه هغۀ ستاسودجنس نه ستاسوجوړې جوړې کړې،چه هغوی ستاسوښځې جوړیږی. اوتاسودهغوی خاوندان ئې،ځکه چه دهغوی نه تاسوته سکون اوارام اوراحت اسانش حاصل وی. ځنګه چه په بل ایت کښې دی چه الله تعالی تاسودیونفس نه پیداکړئ اوهم دهغۀ نه ئې ښځه پیداکړه،چه هغه دهغې نه راحت حاصل کړی.حضرت حواؑ دحضرت ادمؑ دکسې پوختئ نه چه دټولونه وړه ده پیداشوې ده،پس کۀ دانسان جوړه دانسان سره نه ملاویده اودبل ځه جنس سره ددۀ جوړه جوړیده نوموجوده مینه محبت به پکښې نه وو،دامینه محبت دیوجنس دوجې نه دې.دوی په خپل مینځ کښې ئې مینه محبت اورحمت الفت،رحم مهربانی واچوله،پس سړې یاخودمحبت دوجې نه دښځې خیال ساتی یارحم پرې کوی اودهغې خیال ساتی.ځکه چه دهغې نه ئې اولادشوی وی.دهغوی پرورش ددواړوپه میل ملاپ باندې موقوف دې.عرض داچه ډیروجوهات الله تعالی کیښودې دی چه دهغې په وجه انسان په ارام سره دخپلې جوړې سره خپل ژوندتیروی.دادالله تعالی مهربانی اودهغۀ دقدرت کاملې یوه زبردسته نشانی ده،په لږ شان غورسره هم دانسان ذهن دې ته رسیدې شی.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ	خَلْقُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاخْتِلَافُ
او دنښو دهغه نه (یوه نښه)	پیدائش	داسمانونو	او دزمکې دې	او اختلاف دې
اود هغه په نښو کښې داسمانونو اودزمکې پیداکول هم دی		او ستاسو د ژبو		
اَلْسِنَتِكُمْ	وَاَلْوَانِكُمْ ؕ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ
د ژبو ستاسو	اودرنګو ستاسو	بیشکه	په دې کښې	خامخا ډیرې نښې دی
او رنګونو جدا جدا کول دی بیشکه په دې کښې دپوهانو خلقو دپاره نخښې (اودلیلونه) دی				

Scanned with Ca

لِّلْعٰلِمِيْنَ ۝	وَمِنْ اٰيٰتِهٖ	مَنَامُكُمْ	بِالَّيْلِ	وَالنَّهَارِ
دپاره دپوهانو	او دنښو دهغه نه (یوه نښه)	خوب ستاسو دی	په شپه کښی	او په ورځ کښی
اود هغه په نخښو کښې دا هم ده چې د شپې اوورځې ستاسو اودهٔ کیدل دی				
وَابْتِغَآؤُكُمْ	مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ	اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	
او تلاش کول ستاسو دی	دفضل دهغه نه	بیشکه په دې کښی	خامخا ډیرې نښې دی	
اود هغه د فضل نه روزی تلاش کول دی	بیشکه چې په دې کښې هغه خلقو دپاره نښې دی	چې		
لِّقَوْمٍ	يَّسْمَعُوْنَ ۝			
دپاره دهغه قوم	چې خبره اوری			
(په غور) خبرې واورئی				

قوله تعالی:: وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

رب العالمین دخپل زبردست قدرت یوه بله نشانی بیان فرمائی چه ددومره اوچت اوکشاده اسمان پیدائش، په دې کښې دستوروکیښودنه،دهغوی پرق اورنړا،په هغوی کښې دبعضوحرکت کول، د بعضو په یوځانې باندې ساکن کیدل،زمکه په کلك شکل کښې جوړول،داکثیف جوړول،په دې کښې غرونه ،میدان،څنګل،سیندونه، موړې، کانړی،وغیره اودرول.په خپله ستاسوپه ژبواورنګونو کښې اختلاف ساتل،دعربوژبه بله،دتاتاریانو اوکردو او درومیانو اودفرنګیانو، اوتکروریو او د بربرو ،او د حبشو اوهندوانو،اودایرانیانو،اوصقالبه،اودارمینیانو،اوجزریانو، او الله تعالی ته پته ده چه څومره څومره ژبې بنی ادم په زمکه باندې وائی.دانسانی ژبوداختلاف سره سره ددوی درنګونواختلاف هم د الله تعالی دشان اظهارکوی.خیال اوکړئ چه په لکونوکسان راجمع شی دیوخاندان، یوقبیلی ،او د یو ملك ژبه وی خونامکنه ده چه په هریوکښې څه اختلاف نه وی.حالانکه دبدن داندامونوپه اعتبارسره ښکاره موافقت دې.دټولودوه دوه سترګې،دوه روزې،یوه پوزه،دوه غوږونه،یوتندې،یوه خوله،دوه شونډې،دوه اننګی،وغیره،خوهریوبل ده جدادې.څه نه څه هیئت،عادت،خصلت،کلام ،خبرې اترې ، طرز اوادا،به ضروردا سې وی چه په هغې کښې به دیوبل نه جداوی.اګرچه هغه به ډیرمعمولی اولږ شان وی، اګرچه په ښانست اوبدصورتئ به ډیرځیزونه یوشان په نظرراځی،خوکه غوراوکړې شی اوهریولره په بل باندې ممتازکولووالا یونه یوصفت به نظر راشی. هرپیژندووالا ددومره لوې طاقت والا مالك پیژندې شی،اوددې صنعت نه صانع پیژندې شی.خوب هم دقدرت یوه نشانی ده،چه په هغې سره ستومانی ختمه شی.راحت اوارام حاصلیږی.ددې دپاره قدرت شپه جوړه کړه،دکار او روزګاردپاره ،د دنیا دحاصلولودپاره،دګټې اوروزګار دپاره،دمعاش دلټولو دپاره، الله تعالی ورځ پیداکړه،چه د شپې نه بالکل خلاف ده،په یقین سره داوریدونکو اوپوهیدونکو دپاره په دې ځیزونو کښې دقدرت نشانات دی.په طبرانی کښې دحضرت زیدبن ثابتؓ نه روایت دې چه دشپې به زمانه خوب تختیدو ،نو ما حضورﷺ ته ددې کارشکایت اوکړو،حضورﷺ راته اوفرمائیل چه دادعاوائیه،(**اللهم غارب النجوم وهداب العیون وانت حی قیوم یاحی یاقیوم انم عینی واهدي لیلی**)،ماچه کله دا دعااولوستله نودخوب نه راتلو بیماری دالله تعالی په فضل اوکرم سره ختمه شوه.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ	يُرِيْكُمُ	الْبَرْقَ	
او دنښو دهغه نه (یوه داده)	چې ښائی تاسو ته هغه	بریښنا	
اود هغه په نخښو کښې یوه داد ه چې تاسو ته دبریښنا پرق ښائی			

خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ
سره دیرې	او دطمعې	او نازلوی هغه	داسمان نه	اوبه	پس ژوندئ کوی	په هغې سره	
(دتندر)ویره هم د ه	او (دباران) امیدونه هم	اوهم هغه دبره نه اوبه راوروی	ببیا زمکه د اوچیدو
الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ
زمکه	روستو	دمرګ دهغې نه	بیشکه په دې کښې	خامخا نښې دی	دپاره دهغه قوم	
نه پس راژو ندئ اوتازه کړی	بیشکه په دې کښې د هغه خلقو دپاره نښې دی
يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ
چې دعقل نه کار اخلئ	او دنښو دهغه نه (یوه داده)	چې ولاړ دی	آسمان	اوزمکه	
چې دعقل نه کار اخلی	اود هغه دنخښو نه یوه داده چې آسمان او زمکه د هغه په حکم
بِاَمْرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ اِذَاۤ اَنْتُمْ
په حکم دهغه سره	ببیا چې کله	هغه رابلئ تاسو	په رابللو سره	دزمکې نه	نو یودم به تاسو	
په ځائې قائم دی	نو څه وخت چې هغه تاسو دزمکې ددننه نه راوبلی	نوتاسو به ناګهانه
تَخْرُجُوْنَ ﴿۲۵﴾
رااوزئ (دزمکې نه)	
راوځئ	

قوله تعالی:: وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا

داسمانی بجلئ چمک دهمک:- دالله تعالی په عظمت باندې دلالت کونکی یوه بله نشانی بیانیږی.چه په اسمانونو کښې دهغۀ په حکم سره پرقیږی.چه دهغې په لیدوسره تاسوکله کله ویریږئ،چه هسې نه دا پرق څوک هلاک کړی.چرته بجلی راپریوځی وغیره.اوکله ستاسوامیدپیداشی چه ښه ده اوس به باران اوشی ،اوبه به زیاتې شی.ترسالی به شی.وغیره،هم هغه دې چه داسمان نه اوبه راوروی،اوزمکه چه اوچه پرته وی چه په هغې کښې دشینکی هیڅ نوم نشان نه وو،دمړی په شان بیکاره وه دابارانو هغه ژوندئ کړی اوشینکی په کښې راوتوکیږی اوهرطرف ته شینکې شی.اوقسماقسم پیداوارپه کښې راوتوکیږی.دعقلمندودپاره په دې کښې دالله تعالی دعظمت یوژوندې تصویردې.هغوی ددې نخښې په لیدوسره یقین اوکړی چه دې زمکې لره ژوندې کولووالا الله تعالی دمرګ نه پس بیادنوې سرنه زمونږ په ژوندی کولوباندې قادردې.دهغۀ یوه نشانی داهم ده،چه زمکه اواسمان دهغۀ په حکم باندې قائم دې.هغه اسمان لره په زمکه راپریوتوته نه پریږدی،اوهغه زمکه اواسمان ټینګ کړی دی.اوهغه ئې دزوال نه بچ ساتلی دی.حضرت عمربن خطاب رضی الله عنه چه کله تاکیدی قسم خورل غوښتل نوفرمانیل به ئې چه په هغه الله تعالی مې دې قسم وی دچاپه حکم چه زمکه اواسمان ټینګ شوی دی .

قوله تعالی:: وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ

بیابه دقیامت په ورځ هغه زمکه اواسمان بدل کړی.مړی به دخپلوقبرونونه راوویستې شی،په ځپله الله تعالی به دوی ته اوازاوکړی اودوی به صرف په یواوازباندې ژوندی شی اودخپلوقبرونونه به راوځی،څنګه چه په بل ایت کښې دی چه په کومه ورځ هغه تاسوته اوازاوکړی نوتاسوبه دهغۀ حمدکوئ

او هغه ته به جواب ورکړئ، اویقین به اوکړئ چه تاسو ډیرکم پاتې وئ، په بل ایت کښې دی ﴿ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴾ صرف په یواوازسره به ټول مخلوق دحشرپه میدان کښې جمع شی، په بل ایت کښې دی ﴿ إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴾ یعنی هغه خوبه صرف یواوازوی چه دهغې په اوریدوسره به ټول په ټوله زمونږ په وړاندې حاضرشی.

وَلَهٗ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ؕ	
او هغه لره دی	هغه څوك	چې په آسمانونو کښې دی	او په زمکه کښې دی	
اوځومره خلق چې په آسمانونو اوزمکه کښې موجود دی				
كُلٌّ لَّهٗ	قٰنِتُوْنَ ۝	وَهُوَ الَّذِيْ	يَبْدَؤُا	الْخَلْقَ
ټول هغه لره	فرمان منونکی دی	او هغه	هغه ذات دې	چې اول شروع کوی	دپیداوښت
ټول دهغه تابع دی	او الله ﷻ هغه ذات دې	چې مخلوق په اول ځل پیدا کوی		
ثُمَّ يُعِيْدُهٗ	وَهُوَ	اَهْوَنُ	عَلَيْهِ ؕ	وَلَهُ
بیا	به ئې هم هغه دوباره پیدا کوی	او دا کار	ډیر آسان دی	په هغه باندې	او هغه لره دې
اوبیا به ئې سردوباره هم راپیدا کوی	اودا کار ورته زیات آسان دې		او په آسمانونو	
الْمَثَلُ الْاَعْلٰى	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ۚ	وَهُوَ الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ ۝
مثال (صفت)	اوچت	په آسمانونو کښې	او په زمکه کښې	او هغه	غالب	او حکمت والا دې
او زمکه کښې د هغه شان ډیر اوچت دې		او هغه ډیر زبردست اودحکمتونو خاوند دې		

په دویم ځل پیداوښت خوالله تعالی ته ایراسان دې:- فرمائی چه دټولواسمانونواوټولوزمکومخلوق دالله تعالی دې.ټول دهغۀ وینځې غلامان دی.ټول دهغۀ ملکیت دی،ټول دهغۀ په وړاندې عاجزاولاچاره او مجبوره اوبې وسه دی.په یوحدیث کښې دی چه په قران کریم کښې چه چرته دقنوت ذکردې،هلته دې نه مراداطاعت اوفرمانبرداری ده،دپیدائش ابتداء هم هغۀ اوکړه اوپه دویم ځل پیدائش به هم هغه کوی، اوپه دویم ځل پیدائش داول ځل په نسبت عادتاً زیات اسان وی،په صحیح بخاری کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی،دجناب باری تعالی ارشاددې،چه ابن ادم مانه منی،اوهغۀ له داسې نه ووپکار،هغه ماته بدوائی اوداهم دهغۀ سره لائق نه وو،دهغۀ نه منل خودادی چه دې وائی چه څنګه زۀ دۀ په اول ځل پیدا کړم هغسې مې په دویم ځل نه شی پیداکولی،حالانکه په دویم ځل پیداکول داول ځل د پیدا کولو په نسبت بالکل اسان وی،دهغۀ ماته بدردونیل دادی چه وائی چه دالله تعالی اولاددې،حالانکه احد او صمد یم،دچاچه نه اولاداونه مورپلاراونه څوك همسرشته،غرض داچه دواړه پیدائشه دهغه مالك په قدرت کښې دی،نه داکارپه هغۀ باندې ګران دې اونه سخت،داهم کیدې شی (هو) ضمیرمرجع (خلق) وی (مثل)نه مرادلته دهغۀ توحیدالوهیت اوتوحید ربوبیت دې نه چه مثال.ځکه دالله تعالی ذات دمثال نه پاك دې،فرمان دې (لیس کمثله شیء)دهغۀ څه بل څه مثال نشته،بعضې اهل ذوق وئیلی دی چه کله د صفا سوتره اوبوپاك صفاحوض ولاړوی اودبادصباهواهغه نه خوزوی نوپه هغې کښې اسمان صفا په نظر راځی،نمرستوری سپوږمۍ پکښې واضح ښکاری،هم دغه شان دبزرګانوزړونه دی چه په هغې کښې هغوی همیشه دالله تعالی عظمت اوجلال وینی،اوغالبه ده چه په چاباندې دچاوس نه وی اونه دهغۀ په مخکښې دچاڅه وس رسی،هرڅیزدهغۀ په ماتحتئ کښې اودهغۀ په وړاندې لاچاراوعاجزه

Scanned with Ca

اوبې وسه دې،دهغه قدرت،سطوت،سلطنت،هرڅیزباندې خوردې،هغه حکیم دې،په خپلو اقوالو او افعالو کښې،په شریعت کښې،په تقدیرکښې،غرض په هرهرامرکښې.حضرت محمدبن منکدر فرمانی (**مثل اعلی**) نه مراد (لااله‌الله) دې.

ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ؕ هَلْ لَّكُمْ مِّمَّا
بیانوی هغه	تاسو ته یو مثال	دنفسونو ستاسو نه	آیا شته تاسو لره	دهغه غلامانونه	
الله ﷻ ستاسو دپاره (دتوحید) یومثال هم ستاسود ځانونونه بیان کړې دې	آیا دکومو
مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْمَا
چې مالکان شوی وی دهغوئ	ښې لاسونه ستاسو	څه شریکان	په هغه مال کښې	
غلامانو چې تاسو مالکان یئ	په هغوئ کښې څوک داسې هم شته	چې په هغه رزق
رَزَقْنٰكُمْ فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ
چې درکړې دې تاسو له	پس یئ تاسو	په هغه مال کښې	یو برابر	(او) تاسو یریږئ دهغوئ نه	
کښې کوم چې مونږ تاسوته درکړې دې استاسو برابر شریک وی|چې تاسودهغوئ داسې خیال اوساتئ
كَخِيْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ
پشان دیریدلو ستاسو	دخپل برابر خلقو نه	دارنګې	واضحه بیانوو مونږ آیتونه	دپاره دهغه قوم
لکه چې په خپل مینځ کښې چې دیو بل ساتئ ؟	مونږ د عاقلانو خلقودپاره دغسې په وضاحت سره
يَّعْقِلُوْنَ ۝ بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ
چې دعقل نه کار اخلی	بلکه پیروی کوی	هغه کسان	چې ظلم ئې اوکړو	دخواهشاتوخپلو
دلیلونه بیانوو	، بلکه داظالمان بې دلیله دخپلو خواهشاتو تابعداری کوی
بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَا لَهُمْ
بغیر دعلم نه	پس څوک به لارواوښائی	هغه چاته	چې بې لارې کړې وی	الله	اونشته دپاره دداسې خلقو
نوداسې خلق به څوک په سمه لار روان کړی	اکوم چې الله ﷻ ګمراه کړی وی ؟	او د هغوئ به
مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝
هیڅوک دمددګارانو نه	
هیڅوک مددګار نه وی	

تاسوپه خپل حق کښې شریک نه برداشت کوئ الله تعالی به ئې ولی برداشت کوی:- دمکې مشرکانوبه خپل بزرګان درب شریک ګنړل،خوهغوی ورسره ورسره داهم منل چه داټول دالله تعالی غلامان اوماتحت دی.نوهغوی به دحج اوعمرې په موقعه به لبیک سره وئیل چه(**لبیک لاشریک لک الا شریکا هولک تملکه ومامملک**)یعنی مونږ ستاپه دربارکښې حاضریو،ستاڅوک شریک نشته،مګرهغه چه په خپله دکوم څیزهغوی مالک نه دی،ټول ستاملکیت دی.یعنی زمونږ دشریکانواودهغوی دملکیت خوتهٔ اصلی مالک ئې،پس دلته هغوی په یومثال سره پوهولې کیږی.چه دوی ئې په خپل نفس کښې بیامومی او ډیر په ښه طریقې سره غوراوفکراوکړې شی.نوفرمائی چه په تاسوکښې به څوک هم په دې امرباندې راضی

Scanned with Ca

شی؟چه دهغوی په ټولومالونو کښې دهغوی غلامان ددۀ برابرشریك وی،اوچه هروخت دهغۀ سره داوږه وی چه تقسیمولوسره زماجائیداداوملکیت نیمګړې پاتې نه شی.پس څنګه چه داخبره تاسودخان دپاره نه خوښوئ نودالله تعالی دپاره هم مه غواړئ،څنګه چه غلام دمالك برابری نه شی کولې،هم دغه شان دالله تعالی یوبنده دالله تعالی شریك نه شی کیدې.داعجیبه بې انصافی ده چه دخپل ځان دپاره دکوم څیزنه نفرت اوکرکه کوئ دالله تعالی دپاره هم هغه خبره ثابتولودپاره کینئ،په خپله په لونږوخفه کیږئ،صرف دومره اوریدوسره چه تاکره لورشوې ده مخونه موتورشی،اودالله تعالی مقربوفرشتوته دالله تعالی لونږه وایئ،دغه دخپل ځان دپاره داخبره هیڅ کله نه خوښوئ چه خپلوغلامانولره دخپل ځان سره شریك اوبرابراوګڼئ خودالله تعالی غلامانولره دالله تعالی شریکان ګڼئ،څومره زیاته بې انصافی ده؟دحضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت دې چه مشرکانوبه کوم لبیك وئیلواوپه هغې کښې دالله تعالی سره دنه شرکت اقرارکولوسره بیادهغۀ دغلامئ دلاندې نورولره به ئې شریکان منل،په دې باندې دایت نازل شواوپه دې کښې بیان دې چه هرکله تاسوخپل غلامان دځان برابرګرځولوباندې شرم محسوسوئ نودالله تعالی غلامانولره دالله تعالی شریکان ولئ ګرځوئ؟داصفاخبره بیانولوسره نې ارشاد اوفرمائیلوچه مونږهم داقسمه تفصیل اودلائل دغافلانوپه وړاندې وړدو،بیافرمائی اوښانی چه د مشرکانو دشرك هیڅ عقلی سندیانقلی دلیل نشته صرف دجهالت کرشمه ده اودجهالت دپیروئ خواهش دې.هرکله چه هغوی دنیغې لارې نه بې لارې شوی دی.نودوی لره سوادالله تعالی بل هیڅوك په نیغه لاره نه شی راوستې،دوی اګرچه نورولره خپل کارسازاومددګارګڼی خوواقعه داده چه درب د دشمنانوهیڅوك دوست نه وی.څوك شته چه دهغۀ دمرضئ نه علاوه شوندې اوخوزوی؟څوك دې چه په هغۀ باندې مهربانی اوکړی په چاچه الله تعالی نامهربانه وی؟دهغۀ خوښه کیږی اوڅه چه نه غواړی هغه نه شی کیدې.

فَأَقِمْ	وَجْهَكَ	لِلدِّيْنِ		حَنِيْفًا ؕ
پس برابر کړه	مخ خپل	دین ته		حال دا چې مائل اوسې حق ته
نوته همیشه ددین (اسلام) تابعدار اویو مخیزئ اوسیږه				
فِطْرَتَ اللّٰهِ	الَّتِيْ	فَطَرَ النَّاسَ	عَلَيْهَا ؕ	لَا تَبْدِيْلَ
قائم اوسه په فطرت دالله	هغه	چې پیدا کړی دی الله خلق	په هغې باندې	نشته دې بدلیدل
دالله ﷻ فطرت هغه دې په کوم چې ئې ټول خلق پیدا کړی دی				..... دالله ﷻ پیدا کړی
لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ	ذٰلِكَ الدِّيْنُ	الْقَيِّمُ ۙ	وَلٰكِنَّ	أَكْثَرَ النَّاسِ
جوړښت دالله لره	دادین (یعنی طریقه)	صحیح ده	ولیکن	اکثر خلق
څیزونه کښې بدلولون پکارنه دې	..... نو دغه صحیح دین دې			خو زیات خلق
لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ﴿۳۰﴾		مُنِيْبِيْنَ		إِلَيْهِ
دا طریقه نه پیژنی	(ټینګ شئ په دې فطرت) حال دا چې رجوع کونکی یئ			خاص هغه (الله) ته
نه پوهیږی	..... (ای خلقو) الله ﷻ طرفته رجوع اوکړئ			
وَاتَّقُوْهُ	وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ	وَلَا تَكُوْنُوْا		مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ﴿۳۱﴾
اوویریږئ دهغه نه	او قائیم کړئ مونځ	او مه کیږئ		دمشرکانونه
اودهغه نه اویریږئ	او دمونځ پابندی کوئ	.....		اوپه مشرکانو کښې مه شاملیږئ

Scanned with Ca

مِنَ الَّذِيْنَ	فَرَّقُوْا	دِيْنَهُمْ	وَكَانُوْا	شِيَعًا ؕ
دهغه کسانونه	چې جدا جدا کړې ئې دي	دين خپل	او تقسيم شوی دی	په ډلو ډلو کښی
کومو خلقو چې خپل دين ټکړې ټکړې کړو	.....			اوډلې ډلې شول
كُلُّ حِزْبٍ	بِمَا	لَدَيْهِمْ	فَرِحُوْنَ ۝	
هره ډله	په هغه دين	چې دهغوئ سره دي	خوشحاله دی	
هره يوه ډله هم په هغه څه خوشحاليده څه چې د هغوی سره دی				

دفطرت نه څکه مراددي: په ملت دابراهيم حنيف ټينګ اودريږئ، کوم دين لره چه الله تعالی ستاسو دپاره مقررکړي دي. اوکوم چه اې نبی ﷺ ستاسوپه لاس الله تعالی کمال ته رسولې دي. دالله تعالی په فطرت سليمه باندې هم هغه قائم دي څوك چه ددين اسلام پابنددي. هم په دي باندې يعنی په توحيد باندې الله تعالی تمام انسانان جوړکړی دی. په اول ورځ دټولونه دااقراراخستې شوې ووچه ايازهٔ ستاسو رب نه يم؟ نوټولواقراراوکړوچه بيشکه هم ته زمونږ رب تعالې ئې، هغه حديثونه به ډيرزرانشاءالله بيان شی دکومونه چه ثابته ده چه الله تعالی خپل ټول مخلوق په خپل ربښتوني دين باندې پيداکړی دی. گو چه ددې نه پس خلق يهوديت، نصرانيت وغيره ته لاړل، خلقودالله تعالی دافطرت مهٔ بدلوئ، خلق ددې نيغې لارې نه مه بې لارې کوئ، داخوخبرپه معنی کښې دحکم به وی، څنګه چه (وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا) کښې ددې معنی ډيره بهترينه اوصحيح ده. دويمه معنی ئې داهم ده چه الله تعالی ټول مخلوقات په فطرت سليمه باندې يعنی په اسلام باندې پيداکړل. دالله تعالی په دې دين کښې هيڅ تغيراوتبدل نشته، امام بخاری نې هم دغه معنی کړې ده. چه دلته دخلق الله تعالی نه مراددين اوفطرت اسلام دي. په بخاری کښې دحضرت ابوهريره ؓ په روايت سره دحضور ﷺ فرمان دي چه هرماشوم په فطرت باندې پيدا کيږی. بيادهغهٔ مورپلارهغهٔ يهودی نصرانی اومجوسی جوړکړی، څنګه چه دبڼې صحيح سالم بچې وی اوخلق دهغې غوږونه کټ کړی، بياحضور ﷺ دا ايت تلاوت اوفرمانيلو ﴿ فِطْرَةَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ﴾ په مسند احمد کښې دی چه حضرت اسود بن سريع ؓ فرمانی چه زهٔ درسول الله ﷺ خواته راغلم، دحضور ﷺ سره مې دکفاروسره جهاداوکړو، هلته مونږ دالله تعالی په فضل سره کاميابه شو، په دغه ورځ خلقوډيرکافران قتل کړل، تردې پورې چه وړو ماشومانوته ئې هم لاس واچولو، حضوراکرم ﷺ ته چه کله پته اولږيده نوحضور ﷺ ډيرزيات خفه شواووې فرمانيل چه داڅه خبره ده چه خلق دحدنه اوخی، نن ئې ماشومان هم قتل کړل، چاورته اووئيل چه يارسول الله ﷺ اخرهغوی خوهم دمشرکانو اولادوو. حضور ﷺ اوفرمانيل نه نه، يادساتئ په تاسوکښې بهترين خلق دمشرکانوبچی دی. خبردارماشومان هيڅ کله مه قتلوئ. دنابالغه دقتل کولونه منع شئ، هر ماشوم په فطرت باندې پيداکيږی تردې پورې چه هغه په خپله ژبه څه اووائی بيادهغهٔ مورپلارهغهٔ يهودی نصرانی جوړکړی. دجابربن عبدالله ؓ په روايت سره په مسندکښې دی چه حضور ﷺ فرمائی ،هرماشوم په فطرت باندې پيداکيږی. تردې پورې چه هغه ته ژبه راشی اوس هغه ياخوشاکرجورشی يا کافر.

مسندکښې دحضرت ابن عباس ؓ نه روايت دي چه دحضور ﷺ نه دمشرکانوداولادپه باره کښې سوال اوکړې شونوحضور ﷺ اوفرمانيل چه کله دوی الله تعالی پيداکړل نوهغهٔ ته ښه پته وه چه دوی څه اعمال کونکی دی. ددوی نه مروی دی چه په يوه زمانه کښې به ماوئيل چه دمسلمانانواولاددمسلمانانوسره دي. اودمشرکانودمشرکانوسره. تردې پورې چه فلانی کس دفلانی نه روايت اوکړواوماته ئې واورولو ،چه هرکله دحضور ﷺ نه دمشرکانودماشومانوپه باره سوال اوکړې شونوحضور ﷺ اوفرمائيل الله تعالی ته ښه پته ده دهغهٔ څيزچه هغه ئې کوی.

Scanned with Ca

دې حدیث اوریدوسره ماخپله فتوی پریښوده.حضرت عیاض بن حمار﷜په مسند امام احمدmوغیره کښې حدیث دې.چه حضورﷺ په یوه خطبه کښې اوفرمائیل چه ماته الله تعالی حکم راکړوچه هغه نن څه ماته ښودلی دی اودهغې نه چه تهٔ تري ناخبره ئې هغه زهٔ تاته اوښائیم.وې فرمائیل چه څه ما خپلو بندګانوته ورکړې دی مادهغوی دپاره حلال کړل.ماخپل ټول بندګان یك طرفه خالص دین والا جوړکړی دی،ددوی خواته شیطان راځی اودوی ددین نه ګمراه کوی.اوحلال په دوی حراموی،دوی ته زماسره دشرك دپاره وائی،چه دهغې څه دلیل نشته،الله تعالی دزمکې والوطرف ته نظرواچولواوعرب اوعجم ئې ټول ناخوښه کړل.سوادیوځواهل کتاب نه علاوه.هغه فرمائی چه ماتاسوصرف دازمینښت دپاره لیږلی ئې،ستاسوخپل ازمینښت به هم کیږی اوستاپه وجه دنوروټولوهم.زهٔ به تاسوته هغه کتاب درکړم چه اوبه به ئې نه شی وینځلې،ته به هغه په خوب اوپه ویښه وائې،بیاماته الله تعالی ارشاداوفرمائیلوچه زهٔ قریش خبردارکړم ،ماخپله اندیښنه ظاهره کړه.چه چرته هغوی زماسرمات نه کړی اودروتیٔ په شان ئې نه کړی؟نووې فرمائیل چه څنګه دوی تااوباسی دغسې به زهٔ دوی اوباسم،تهٔ ددوی سره جهاداوکړه اوزهٔ به ستادملګرتیاکوم.تهٔ خرچ کوه په تاباندې به خرچ اوکړی شی.تهٔ لښکراولیږه زهٔ به دهغې نه پنځه چنده زیات لښکراولیږم.فرمانبرداردخان سره کړه اوپه نافرمانوباندې حمله اوکړه.دجنت والا درې قسمه دی،عادل بادشاه،دخیرتوفیق والا اوسخی،نرم زړهٔ والا دهرمسلمان سره احسان کولوواله پاك دامن، دسوال اوحرامونه بچ کیدونکې،اودبال بچ والا کس،اهل جهنم پنځه قسمه خلق دی.هغه بې حیثته اوکمینه خلق چه بې زړه اوبې کوره دی.چه ستاسوپه لمنوکښې خانونه راوینغاړی.هغه خیانیت کونکی چه په ورو وروځیزونوکښې هم دخیانت کولونه بغیرنه پاتې کیږی،هغه خلق چه هروخت خلقوله دهغوی په مالونواواهل وعیال کښې دهوکې ورکوی،سحرماښام په دهوکه بازئ اومکروفریب کښې لګیاوی، بیاحضورﷺدبخیل یادروغ وئیونکی ذکراوکړواووې فرمائیل چه دپنځم قسم خلق بدزبانه او بدګویادی.(مسلم وغیره)

هم دغه فطرت سلیمه،هم دې شریعت لره په مضبوطتیاسره تینګ نیول رښتونې اونیغ دین دې. خو اکثرخلق تري ناخبره دی.اودخپل دې جهالت په وجه دالله تعالی دداسې پاك دین نه لرې بلکه محرومه پاتې شی.څنګه چه په بل ایت کښې دی،ګوستاداحرص وی لیکن په دوی کښې به اکثرخلق بې ایمانه پاتې کیږی.په بل ایت کښې دی چه کهٔ تهٔ داکثریت اطاعت کونکې شې نوهغوی به تادالله تعالې دلاري نه بې لارې کړی.تاسوټول دالله تعالی لارې ته راغب اوسیږئ اوهم دهغهٔ طرف ته ښکته کیږئ،اوهم د هغهٔ ویره ساتئ،دهغهٔ لحاظ ساتئ،دمونځ پابندی کوئ،چه دټولونه لوې عبادت اواطاعت دې. تاسو مشرکان مه جوړیږئ،بلکه خالص موحدین جوړشئ،دهغهٔ نه علاوه دبل چانه دخپل مرادطمع مه ساتئ،حضرت معاذ﷜دحضرت عمر﷜نه ددې ایت دمطلب پوښتنه اوکړه نوهغوی ورته اوفرمائیل دا دریځیزونه دی.اول اخلاص،چه فطرت دې اوپه کوم باندې چه الله تعالې مخلوق پیداکړې دې.دویم مونځ چه په اصل کښې دین دې،دریم عصمت چه په اصل کښې پاکی اوبچاودې.حضرت عمر﷜ اوفرمائیل تارښتیااووئیل.تالره په مشرکانوکښې شامیلیدل نه دی پکار،تاله دهغوی ملګرتیانه ده پکار،اونه دهغوی په شان کارکول پکاردی.چاچه دالله تعالی دین بدل کړو،بعضې خبرې ئې اومنلې او دبعضونه ئې انکاراوکړو،(فرقوا) دویم قرات(فارقوا) دې.یعنی هغوی خپل دین پریښودو،لکه څنګه چه یهود،اونصاری،اومجوس،بت پرست،اوباقی باطل مذهبونووالا.څنګه چه ارشاددې،چه کومو خلقو په خپل دین کښې فرق اوکړواوګروه بندی ئې اوکړه.نوټه په هغوی کښې نه ئې،دهغوی اخرت دالله تعالی په حواله دې.ستانه مخکښې خلق ډلې ډلې شواوټول په ټول په باطل باندې ټینګ اودریدل ،او هر فرقې به دعوی کوله چه هغه څه دې،اواصلی حقانیت ددوی ټولونه ورك شوې وو.په دې امت کښې هم

Scanned with Ca

تفرقه پیداشوه،خوپه دې کښې یوپه حق باندې دې،اوباقی ټول ګمراه دی.دادحق والا ډله اهل سنت والجماعت ده.چه دالله تعالی کتاب اوسنت رسول ﷺ لره په په مضبوطیاسره نیونکی دی په چاچه دمخکینۍ زمانې صحابه،وتابعین،اوامامان مسلمین وو.په تیره زمانه کښې هم اواوس هم،څنګه چه په مستدرک حاکم کښې دی چه درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شوچه په دوی کښې خلاصې بیاموندونکې فرقه کومه یوه ده؟ حضور ﷺ اوفرمائیل(من کان علی ما انا علیه الیوم واصحابی)یعنی هغه خلق چه په دې باندې وی په کوم چه نن زه اوزماصحابه دی(رونړوغوراوکړئ چه په کوم څیزباندې رسول الله ﷺ اودهغۀ اصحاب رضی الله عنهم دحضور ﷺ په زمانه کښې ووهغه وحی الهی،یعنی قران اوحدیث وو،یادځنې امام تقلید.

وَاِذَا مَسَّ	
او کله چې اورسیږی	
..او څه وخت چې خلقو	
النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ	
خلقو ته څه تکلیف نو رابلی هغوئ رب خپل په دا حال کښې چې رجوع کونکی وی هغه ته	
ته تکلیف اورسیږی .....زنو خپل رب ته زاری شروع کړی	
ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ	
بیا چې کله اوڅکوی الله هغوئ ته دطرفه خپل نه (مزه) درحمت نو په هغه ساعت یوه ډله	
بیا چې کله د خپل رحمت مزه په هغوئ اوڅکوی .....نوپه هغه وخت کښې یوه ډله	
مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ۙ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ	
دهغوئ نه درب خپل سره شریك پیدا کوی دپاره ددې چې ناشکری اوکړی په هغې	
خپل رب دپاره شریکان جوړول شروع کړی .....حاصل داچې زمونږ ورکړې شوو نعمتونو	
اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝	
چې ورکړې دې مونږ هغوئ ته پس فائیده واخلئ (څه لږې ورځې) ډیر زر به تاسو ته پته اولږی	
ناشکری کوی نو تاسو (ددنیاوی لذتونونه) فائدې واخلئ ډیر زر به تاسو ته انجام معلوم شی	
اَمْ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا	
ایا نازل کړې دې مونږ په دوئ باندې څه دلیل چې هغه خبری (شهادت کوی) په هغې	
ایا مونږ دې کافرانو ته څه سند رالیږلې دې چې هغه ورته ددوی د شرک جواز بیانوی	
كَانُوْا بِهٖ يُشْرِكُوْنَ ۝ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً	
چې دی دوئ په هغې سره شرک کونکی او کله چې اوڅکوو مونږه خلقو ته رحمت	
..... او کله چې مونږ دې خلقوته د خپلې مهربانئ لږه ډیره حصه اوښایو	

Scanned with Ca

فَرِحُوْا بِهَا ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ

نوخوشحالیږی په هغې | اوکه اورسیږی دوئ ته | څه مصیبت | په سبب دهغې | چې مخکښې لیږلی وی
نودوئ پرې خوشحاله شی (اوشکر نه کوی) | اوکه دخپل عمل په وجه پرې څه مصیبت راشی

اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

لاسونو ددوئ | نو په هغه وخت | دوئ | نا امیده کیږی | ایا نه کوری دوئ | چې بیشکه الله
نو زر ناامیده شی (او صبر نه کوی) | ..... ایا دوئ ته معلومه نه ده چې الله ﷻ

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ

فراښه کوی | رزق | دپاره دهغه چا | چې خوښه ئې شی | او تنګوی (رزق چې اوغواړی)
دچا چې اوغواړی | نو چا ته روزی فراخه کړی | اوچاته چې اوغواړی نو تنګه کړی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى

بیشکه په دې کښې | خامخا ډیرې نښې دی | دپاره دهغه قوم | چې ایمان راوړی | پس ورکړه
بیشکه په دې کښې دایماندارو خلقو دپاره ډیرې نښې دی | نو تاسو خپلو رشته دارو

حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ

| خاوند دخپلولئ له | حق دهغه | او مسکین له | او مسافر له | دا (طریقه) | بهتره ده
ته مسکینانو اومسافرو ته د هغوئ حق ورکوئ | ..... داخبره دهغه خلقو دپاره

لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

دپاره دهغه کسانو | چې غواړی | رضا دالله | او دا خلق چې دی | خاص هم دوئ
ډیره غوره ده | چې دالله ﷻ رضا غواړی | ..... او همدا خلق کامیابی موندونکی دی

الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟

فلاح (یعنی خلاصي) موندونکی دی | اوهغه چې ورکوئ تاسو | دسود نه | دپاره ددې چې زیات شی
..... اوتاسو خلق چې (کوم رقم) په سود ورکوئ | چې دخلقو

فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ

په مالونو دخلقو کښې | پس نه زیاتیږی (هغه) | په نزد الله | او هغه چې ورکوئ تاسو
په مال کښې ملاؤ شی نوزیات شی | نوداسې څیزد الله په نیز نه زیاتیږی (بلکه بې برکته وی) | اوتاسوچې د الله

مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ۝

دزکات نه | چې غواړئ تاسو | رضا دالله | نو دا خلق چې دی | هم دوئ | زیاتونکی دی دمال |
د رضا دپاره کوم زکاة ورکوئی | نو داسې خلق (خپل مالونه) دالله ﷻ سره (په ځوځو چنده) زیاتوی

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ

الله هغه ذات دی | چې پیدا ئې کړئ تاسو | بیا ئې روزی درکړه تاسو له | بیا | هم هغه مړه کوی تاسو
الله ﷻ هغه ذات دی چې تاسو ئې پیدا کړئ | بیا ئې روزی درکړه | بیا به ئې درباندې مرګ راولی

ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ط	هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ	مَّنْ	يَّفْعَلُ
بیا به هم هغه ژوندی کوی تاسو |	ایا شته دشریکانو ستاسو نه	| هغه څوك	| چی کوی
بیا به مو ژوندی کړی |	ایا ستاسو په شریکانو کښې څوک داسې شته	| چې په دې کارونو کښې یوهم	
مِنْ ذٰلِكُمْ	مِّنْ شَيْءٍ ط	سُبْحٰنَهٗ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا
ددې کارونو نه |	پو څیز (کار) |	پاك دې هغه |	اواوچت دې |	دهغه کارونو نه |
اوکړي شی ؟ |	.....د الله ﷻ دپاره پاکی ده |	او ددوئ دپیدا کړو شریکانو نه ډیر		
يُشْرِكُوْنَ ۝ ع				
چی دوئ ئې شریك کوی |				
اوچت دې |				

قوله تعالی:: وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ

دانسان عجیبه حالت دې:-الله تعالی دخلقوحالت بیان فرمائی چه په غم درد ،مصیبت اوتکلیف په وخت خوهغوی الله تعالی(وحده لا شریك له) ډیرپه عاجزئ،زارئ،اوډیرپه توجه اوپوره دلسوزئ سره یادوی .او کله چه په دوی نعمتونه راوریږی نودوی دالله تعالی سره شرك کوی.(لیکفروا)کښې لام بعضې خوائی چه دالام عاقبت دې.اوبعضې وائی چه دالام تعلیل دې.خوددې لام تعلیل کیدل ددې وجې نه نبه معلومیږی چه الله تعالی ددوی دپاره دامقررکړل اوبیائې دوی ته دهمکی ورکړه چه تاسوته به اوس پته اولګی .دبعضې بزرګانوفرمان دې چه کوټوال یاسپاهی که څوك اویروی نوهغه اورپیږی. دحیرانتیا خبره ده چه دهغۀ په ویرولوسره مونږ نه ویریږودچاپه قبضه کښې چه هرځیزدې.اودهغۀ صرف داوئیل دهرکاردپاره کافی دې چه اوشه.بیادمشرکانوبې دلیله کیدل بیان فرمائیلې شی چه مونږ په دوی باندې دشرك دلیل نه دې نازل کړې،بیادانسان یوبیهوده خصلت بطورانکاربیانیږی صرف دیو څو هستیانو نه علاوه عمومی حالت دادې چه دخوشحالوپه وخت په غرورکښې راشی اودسختئ په وخت کښې مایوس شی.ګویااوس هیڅ بهتری ملاویدووالا نه ده.اومومن په سختوباندې صبراوپه نرمئ باندې نیکئ کوی.

د مؤمن په حالت هم حیرانتیا ده:: په صحیح حدیث کښې دی چه په مومن باندې حیرانتیاده،خکه چه د الله تعالی هره قضاددۀ دپاره بهتروی،په راحت شکرکوی،نوداهم ددۀ دپاره بهتره وی.اوپه مصیبت باندې صبر کوی ،نوداهم ددۀ دپاره بهتره وی.هم الله تعالی متصرف اومالك دې.اودخپل حکمت مطابق نې دا جهان جوړکړې دې،چاته کم ورکوی اوچاته زیات ورکوی.څوك په تنګسیااوتکلیف کښې دې اوڅوك په راحت اووسعت کښې،په دې کښې دمومنانودپاره نخښې دی.

قوله تعالی:: فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ط

قرابت دارو وغیره سره دصله رحمئ اوحسن سلوك حکم:-قرابت دارڅوسره دنیکئ ،سلوك،اوصله رحمئ حکم کیږی.مسکین هغۀ ته وائی دچاسره چه څه هم نه وی.یاڅه وی ولې کافی نه وی.دهغۀ سره هم د نبه سلوك او احسان حکم کیږی.مسافردچاسره چه خرچه کمه شوی وی اودسفرخرچه ورسره نه وی دهغۀ سره هم دنبیګړې حکم کیږی.دادهغوی دپاره بهتره ده چه غواړی چه دقیامت په ورځ دیدارالهی اوکړی .په حقیقت کښې دانسان دپاره ددې نه بل لوې نعمت نشته،په دنیااواخرت کښې به خلاصې هم دغه قسمه خلقوته ملاویږی.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ

دې مطلب ا و تفسیر:: ددې دویم ایت تفسیرخودابن عباسؓ،مجاهدm ضحاك mقتادهm محمد بن کعب mاوشعبیؒ نه داسې مروی دې چه کوم کس څه عطیه په داسې ارادې سره ورکړی چه خلق دهٔ ته ددې نه زیاته ورکړی نواګرچه په دې ارادې سره داهدیه ورکول خومباح دی خودثواب نه خالی ده.دالله تعالی په نزددې هیڅ بدله نشته،مګرالله تعالی خپل نبیﷺددې نه هم منع کړو.په دې معنی کښې به داحکم صرف دحضورﷺدپاره خاص وی.ددې په شان ایت**ولاتمنن تستکثر**دې.یعنی د زیاتې بدلې په نیت دچاسره احسان مه کوه.دحضرت ابن عباسؓنه روایت دې چه دسودیعنی نفع دوه صورتونه دی.یوپه بیوپارتجارت،بیعه کښې خوحرام محض دی.دویم سودیعنی زیات والې چه په هغې کښې څه نقصان نشته هغه په دې ارادې سره چاته هدیه تحفه ورکول دی چه هغه ماته ددې نه زیات راکړی.بیاحضورﷺداایت تلاوت اوفرمائیلوچه دالله تعالی سره خوثواب دزکوة داداکولودې.زکوة ورکونکوته دیربرکتونه ملاویږی.

قوله تعالی:: وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ

د زکوة او صدقې دوچند ثواب:: په صحیح حدیث کښې دی چه کوم کس یوه کهجوره صدقه هم ورکړی خوچه په حلال طریقې سره ئې حاصله کړې وی نوهغه الله تعالی رحمان اورحیم په خپل ښی لاس کښې واخلی اوهغه داسې پالی اوزیاتوی ئې لکه څنګه چه په تاسوکښې یوکس داوښ یاداس د بچی پرورش کوی. تردې پورې چه هغه یوه کهجوره داحددغرهومره لویه شی.هم الله تعالی خالق اورازق دې .انسان دخپلې موردخیتې نه بربنډ،بې علمه،بې سترګو،بې غوږواوکمزورې راوخی،بیاالله تعالی هغهٔ ته دا هر څه ورکړی.مال هم،ملکیت هم،ګټه هم،تجارت هم،غرض بې شمیره نعمتونه ورته ورکړی .د دۀواصحابوبیان دې چه مونږ دحضورﷺپه خدمت کښې حاضرشو،دغه وخت کښې حضورﷺپه څه کارکښې مشغول وو.مونږ دحضورﷺپه هغه کارکښې مدداوکړو،حضورﷺاوفرمائیل چه که سرونه خوزیدل نوبیاهم څوك دروزې نه محرومه نه پاتې کیږی.

قوله تعالی:: اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ

انسان بربنډاواوږې دنیاته راخی،یوپوټکې هم د هغهٔ په بدن باندې نه وی بیارب تعالی هغه له روزې ورکوی،هغه به ددې ژوندنه پس بیاتاسووژنی بیا به مودقیامت په ورځ ژوندی کړی.دالله تعالی نه علاوه چه تاسودچاچاعبادت کوئ په هغوی کښې یوهم په دې خبروکښې په یوه هم هیڅ قابونه لری.په دې کارونوکښې یوکارهم هغه نه شی کولې،الله سبحانه وتعالی یواخې خالق،رازق او دمرګ ژوندمالك دې.هم هغه به دقیامت په ورځ ټول مخلوقات ژوندی کړی.هغه مقدس پاك اوعزت اودجلال والا ذات ددې نه پاك دې چه څوك دهغهٔ سره شریك وی. یا د هغهٔ په شان وی یادهغهٔ برابروی یادهغهٔ اولادوی یامورپلاروی.هغه احددې صمددې،یواخې دې د مور پلاراولادنه پاك دې.دهغهٔ هیڅوك همسر یا برابرنشته.

ظَهَرَ الْفَسَادُ	فِي الْبَرِّ	وَالْبَحْرِ	بِمَا	
ظاهر شو فساد	په اوچه کښې	او په دریاب کښې	په سبب دهغې	
په اوچه لونده (هرڅائې) کښې دخلقو (دبدو) عملونو په وجه فساد				
كَسَبَتْ	اَيْدِي النَّاسِ	لِيُذِيْقَهُمْ	بَعْضَ الَّذِيْ	
چې کټلی دی	لاسونو دخلقو	دپاره ددې چې اوڅکوی هغوئ ته	مزه دڅینو هغو عملونو	
خورشوې دې	چې الله ﷻ دوئ ته د بعضې عملونو (دسزا) خوند			

Scanned with Ca

عَمِلُوْا	لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۱﴾	قُلْ	سِيْرُوْا
چې کړې دي هغوئ	دپاره ددې چې هغوئ	واپس راشي	ورته اووايه	چې اوګرزئ
اوځکوی	ددې دپاره چې دوئ منع شي	.....(ائې پيغمبره) ورته اووايه چې په ټوله		
فِي الْاَرْضِ	فَانْظُرُوْا	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلُ ؕ
په زمکه کښې	پس اوګورئ	څرنګې	ووُ	انجام دهغه کسانو	چې مخکښې ووُ ددوئ نه
زمکه اوګرځئ	نو اوګورئی چې ستاسو نه دپخوانو خلقو انجام څه شو ؟				
كَانَ	اَكْثَرُهُمْ	مُّشْرِكِيْنَ ﴿۴۲﴾			
ووُ	زيات دهغوئ	مشرکان			
په هغوئ کښې زيات خلق مشرکان ووا					

قوله تعالی:: ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

دانسان دګناه هونونتيجه اوبراوبحر مطلب :-ممکن ده دبريعنی خشکئ نه مرادميدان څنګل وی، او بحر يعنی ترئ نه مراد ښاراوکلی وی.ګنی ظاهره ده چه برخشکئ ته وائی اوبحراوبوته وائی.دخشکئ د فسادنه مراددباران نه کيدل،دپيداوارنه کيدل،اودقحط سالئ راتلل دی.دترئ دفسادنه مراد دبارانونو اودريدل چه دهغې سره داوبوځناورړاندۀ شی.دانسان وژل اوکشتئ په زوراوجبرسره اخستل ،داد خشکئ فسادډي.دبحرنه مرادجزيرې اودبرنه مرادښارونه اوکلی دی.ليکن اولنې قول زيات ظاهرډي او ددې تائيدمحمدبن اسحاق ددې روايت نه هم کيږی چه حضوراکرمﷺدايله بادشاه سره صلح اوکړه، او دهغۀ بحريعنی ښارئې دهغۀ په نامه کړی.دميوواوسبزونقصان په اصل کښې دانسان دګناهونوپه وجه سره دی،

ګناهونو سره دزمکې فساد او اطاعت سره اصلاح کيږی::دالله تعالی نافرمانه زمکې لره ورانونکی دی.داسمان اوزمکې اصلاح دالله تعالی په عبادت اواطاعت کښې ده.په ابوداودکښې حديث کښې دی چه په زمکه باندې يوحدقائميدل دزمکې والوپه حق کښې دځلويښتو ورځودباران نه بهتردي.داځکه چه دحدپه قائميدوسره به مجرم دګناهونونه منع شی اوکله چه ګناه نه کيږی نوخلقوته به اسمانی اوزمکی برکتونه حاصل وی ،نوپه اخره زمانه کښې هرکله چه حضرت عيسی بن مريمﷺراکوزشی اودپاک شريعت مطابق فيصلې به کوی مثلاً دخنزيرقتل،دصليب ماتې،دجزيې ترک يعنی داسلام قبوليت ياجنګ،بياکله دهغويﷺپه زمانه کښې دجال اودهغۀ مريدان قتل شی ياجوج اوماجوج تباه شی نوزمکې ته به اووئيلې شی چه خپل برکتونه واپس کړه.نوپه دغه ورځ به يواناردډيروخلقودپاره کافی شی دومره لوې به وی چه دهغې دپوستکی لاندې به ډيرخلق سيورې حاصلوی.ديوی اوښې پئ به دټولې قبيلې دپاره کافی وی.داټول برکتونه به درسول اللهﷺ د شريعت دجاری کولوپه وجه سره وی.ځنګه ځنګه چه دعدل اوانصاف مطابق شرع زياتيږی ورسره ورسره به برکتونه هم سواکيږی.ددې برخلاف دګناه ګارکس په باره کښې په حديث کښې دی چه ددۀ په مرګ باندې بندګان،ښارونه،اونې ځناورټول راحت بياموميﷺ.په مسنداامام احمدبن حنبل کښې دی چه د زيادپه زمانه کښې يوه تهيلئ بياموندې شوه چه په هغې کښې دکهجورې دغټ هډوکی هومره د غنمو دانې وې.اوپه هغې کښې ليکلې شوې ووچه داپه هغه زمانه کښې زرغونيدی چه په کومه کښې به دعدل اوانصاف نه کاراخستلې کيدو.زيدبن اسلم rحنه روايت دی چه دفسادنه مرادشرک دی.ليکن داقول غورطلب

Scanned with Ca

دي.بيافرمائی چه مال اوپيداواروکښې اوپه ميووغلوکښې کمی دازمښت په طور او د دوی دبعضواعمالوپه بدله کښې دی.څنګه چه په بل ځانې کښې دی﴿وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ﴾ مونږ هغوی په نيکواوبدوکښې اخته کړل چه دوی راواپس شی. تاسو په زمکه باندې اوګرځئ اوپه خپله اوګورئ چه ستاسونه مخکښې کوم مشرکان وودهغوی څه نتيجې شوې؟درسولانونه منلوپه وجه اوداالله تعالی سره کفرکولوڅه وبال په هغوی باندې راغې؟ دا اوګورئ اوعبرت حاصل کړئ.

فَاَقِمْ	وَجْهَكَ	لِلدِّيْنِ	الْقَيِّمِ		
پس مضبوط اودروه	مخ خپل	دپاره ددين	صحيح		
نو خپل مخ د هغه قوی دين دپاره قائم (تيار) ساته					
مِنْ قَبْلِ	اَنْ يَّاْتِيَ	يَوْمٌ	لَّا مَرَدَّ	لَهٗ	مِنَ اللّٰهِ
مخکښې ددې نه	چې راشی	هغه ورځ	چې نشته واپس کيدل	هغې لره	دطرفه دالله نه
ددې خبرې نه وړاندې چې هغه ورځ راشی	چې بيا دالله ﷻ (وينا) ته واپس راګرځيدل نه کيږی				
يَوْمَئِذٍ	يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿۴۳﴾	مَنْ كَفَرَ	فَعَلَيْهِ		
هم په دغه ورځ به	دا خلق ديو بل نه جدا جدا شی	هغه چاچې کفر اوکړو	نو په هغه دې وبال		
په هغه ورځ به ټول خلق جدا جدا شی	چې څوک انکار اوکړی	نو د هغه دانکار ضرر به هم هغه ته رسی			
كُفْرُهٗ ۚ	وَمَنْ	عَمِلَ صَالِحًا	فَلِاَنْفُسِهِمْ	يَمْهَدُوْنَ ﴿۴۴﴾	
دکفر دهغه	او هغه څوک	چې عمل ئې اوکړو نيک	نو دپاره دخانونو خپلو	دخلاصې لارصفا کوی	
اوڅوک چې نيک کارونه کوی	نو خپل ځان له سامان (دراحت) تياروی				
لِيَجْزِيَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ		
دپاره ددې چې بدله ورکړی الله	هغه خلقو ته	چې ايمان ئې راوړې دې	او عملونه ئې کړی دی نيک		
نوکوم خلق چې ايمان راوړی	.....او هغوئ نيک عملونه هم کوی				
مِنْ فَضْلِهٖ ؕ	اِنَّهٗ	لَا يُحِبُّ	الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۵﴾	وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ	
دفضل خپل نه	بيشکه هغه	نه خوښوی	کافران	او دنښو دهغه نه (يوه داده)	
هغوئ ته به په خپل فضل سره بدله ورکړی	بيشکه الله کافران نه خوښوی	اودهغه په نښو کښې			
اَنْ يُّرْسِلَ	الرِّيَاحَ	مُبَشِّرٰتٍ	وَّلِيُذِيْقَكُمْ	مِّنْ رَّحْمَتِهٖ	
چې راليږی هغه	هوائګانې	زيری ورکونکی	دپاره ددې چې اوڅکوی تاسو ته	درحمت خپل نه	
يوه داده چې هغه (دباران) زيری ورکونکی بادونه راليږی	د دې دپاره چې دخپلې مهربانئ				
وَلِتَجْرِيَ	الْفُلْكُ	بِاَمْرِهٖ	وَلِتَبْتَغُوْا	مِنْ فَضْلِهٖ	
اودپاره ددې چې روانه شی	کشتئ	اپه حکم دهغه	اودپاره ددې چې اولټوی ستاسو	دفضل دهغه نه	
خوند دربانديې اوڅکوی	اوددې دپاره هم چې دهغه په حکم بيړئ روانې وی	اوچې تاسو (دتجارت په ذريعه)			

وَلَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ۝	وَلَقَدْ	اَرْسَلْنَا	مِنْ قَبْلِكَ
او دپاره ددې چې	تاسو شکر اوباسئ	او په تحقیق سره	او لیږل مونږه	مخکښې ستا نه
دهغه مقرر کړې روزی تلاش کړئ	اوچې دهغه شکر اداکړئ	اومونږ ستا نه وړاندې	پیر پیغمبران خپلو	
رُسُلًا	اِلٰى قَوْمِهِمْ	فَجَآءُوْهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	فَانْتَقَمْنَا
پیر رسولان	قومونو دهغوئ ته	پس ورغلل هغوئ ته	دواضحه ننبو سره	پس بدل واغستو مونږه
قومونه ته لیږلی وو	نوهغوئ به ورته ښکاره معجزې اوخودلې	(خوبیابه ئې هم ایمان راونړو)	نو بیامونږ د	
مِنَ الَّذِيْنَ	اَجْرَمُوْا ؕ	وَكَانَ	حَقًّا	عَلَيْنَا	نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ۝
دهغه کسانونه	چې جرم ئې اوکړو	او وؤ	حق	په مونږ باندې	امداد کول دمومنانو
نافرمانو خلقو نه بدله واخسته	اومومنانو سره مدد کول زمونږ ذمه واری وه				

قوله تعالی:: مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ

قیامت به دالله تعالیٰ په یوحکم سره راشی:-الله تعالی خپلوبندګانوته په دین باندې دتینګ اودریدواوپه چستئ سره دالله تعالی دفرمانبرداریٔ کولوهدایت کوی.اوفرمائی چه دمضبوط دین طرفته مکمل متوجه شئ،ددې نه مخکښې چه دقیامت ورځ راشی.کله چه الله تعالی دهغه ورځې دراتلوحکم اوفرمائی نوبیاهغې حکم لره یاراتلونکی وخت لره هیڅ څیز روستوکولې نه شی.په دغه ورځ به نیک او بد جدا جداشی.یوه ډله به په جنت کښې اوبله ډله به په بل اورکښې،کافران به دخپل کفردبوجه لاندې راګیروی .اونیک عمله خلق به دخپلونیکوعملونودذخیرې دوجې نه خوشحاله وی.الله تعالی به ددوی نیکئ څوچنده زیاتې کړی اودوی ته به دهغې نه څوچنده زیاته بدله ورکوی.یوه یوه نیکی لس لس بلکه اوْوه سوه بلکه ددې نه زیاته به کړې شی اودوی ته به ملاوشی.کافرولره الله تعالی دوستان نه ساتی لیکن په هغوی به هم ظلم نه کیږی

قوله تعالی:: وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ

داخوهم دهغه نعمتونه دی:-دباران مخکښې خوږې خوږې هواګانې چلیدل اوخلقوته دباران امید ورکول ، د دې نه پس باران ورول چه کلی پرې ابادوی،جانداروی،په سمندرونوکښې،سیندونوکښې پرې جهازونه اوکشتئ اوچلیږی،خکه چه دکشتوتګ هم په هواباندې موقوف دې.اوس تاسودخپلې ګټې وتې دپاره اخوادیخوالاړراشئ،پس تاسوته پکاردی چه دالله تعالی په دې بې شمیره نعمتونوباندې دهغۀ شکریه اداکړئ،

قوله تعالی:: وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا

دا تسلی ته نبی کریم ﷺ ته ::بیاخپل نبی اکرم ﷺ ته تسکین اوتسلئ ورکولودپاره فرمائی چه کۀ خلق تانه منی نوټۀ داڅه نوې خبره مه ګنړه،ستانه مخکښې هم نورورسولانوته دهغوې امتونوداسې ګډې وډې خبرې اورولې دی.هغوی هم صفاواضحه اوروښانه دلیلونه اومعجزې اواحکام راوړی،په اخره کښې نه منونکی دعذاب په شکنجه کښې راګیرکړې شواومومنانوته هغه وخت دهرقسمه بدئ نه خلاصې ملاوشو،په خپل فضل اوکرم سره الله تعالی جل شانه په نفس کریم باندې داخبره لازم کړې ده چه هغۀ به دخپلوایمانداراو بندګانومدد کوی.څنګه چه فرمان دې.﴿كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ﴾ په ابن ابی حاتم کښې حدیث دې چه رسول الله ﷺ فرمائی،کوم مسلمان چه دخپل رورمسلمان عزت بچ کړی په الله تعالی باندې حق دې چه هغۀ به د دۀ نه دجهنم اورلرې کړی.بیاحضور ﷺ اولوستل، ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ۝﴾.

Scanned with Ca

اَللّٰهُ الَّذِیْ	یُرْسِلُ	الرِّیٰحَ	فَتُثِیْرُ	سَحَابًا	فَیَبْسُطُهٗ

الله هغه ذات دي | چې رالیږي | هواګاني | پس پورته کوي | وریځي | پس خوروي نې هغه |

الله ﷻ هغه ذات دي چې بادونه رالیږي|نو هغه(بادونه) وریځي راوچتوي | بیا چې الله ﷻ څنګه

فِی السَّمَآءِ	کَیْفَ	یَشَآءُ	وَیَجْعَلُهٗ	کِسَفًا	فَتَرَی الْوَدْقَ

په آسمان کښې | څرنګې | چې غواړي هغه | او ګرزوي هغه | توتې توتې | پس ته وینې باران |

غواړي نو هغه شان په فضا کښې نې خوروي | او تکړې تکړې تړې جوړوي | نو وینې ګوري چې

یَخْرُجُ	مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ	فَاِذَآ	اَصَابَ	بِهٖ	مَنْ یَّشَآءُ

چې راوزي | دمنځ دهغې نه | پس هر کله چې | اورسوي هغه | دابارانِ |هغه چاته چې خوښه نې شي

دهغې د مینځ نه باران راوریږي | بیا چې الله ﷻ هغه باران په کومو بندګانو باندې اووروي

مِنْ عِبَادِهٖۤ	اِذَا هُمْ	یَسْتَبْشِرُوْنَ ۚ	وَاِنْ کَانُوْا	مِنْ قَبْلِ

دبندګانو خپلو نه |بیا هغوئ | خوشحالی کوي | او بیشکه چې وو هغوئ | مخکښې ددې نه |

نو هغوئ پرې خوشحالی شروع کړي | اګر که هغوئ دباران د وریدو نه وړاندې ددې

اَنْ یُّنَزَّلَ	عَلَیْهِمْ	مِّنْ قَبْلِهٖ	لَمُبْلِسِیْنَ ۝

چې نازل کړې شي | په هغوئ باندې(باران) | مخکښې دبنکاره کیدو دوریځي نه | خامخا ناامیده |

.....خوشحالئ نه وړاندې بیخي ناامیده وو | .....

فَانْظُرْ	اِلٰۤی اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ	کَیْفَ	یُحْیِ الْاَرْضَ	بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ

پس اوګوره | ښښو درحمت دالله ته | چې څرنګې | ژوندی کوئ زمکه | روستو دمرګ دهغې نه |

نودالله ﷻ درحمت دې نخښو ته اوګوره |چې څنګه زمکه دمرګ نه پس بیا راژوندئ کوي ؟

اِنَّ ذٰلِكَ	لَمُحْیِ	الْمَوْتٰی ۚ	وَهُوَ	عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝

بیشکه هغه (الله) |خامخا ژوندي کونکي دي | دمړو | او هغه | په هر څیز باندې قادر دي |

هم دغه الله ﷻ دي چې مړی راژوندی کوي| او هغه په هر څه باندې قادر دي

وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا	رِیْحًا	فَرَاَوْهُ	مُصْفَرًّا	لَّظَلُّوْا

او که اولیږو مونږه | هوا | |پس اووینی دوئ هغه (فصل خپل) | زیړ | نو خامخا به شي |

اوکه مونږ په دوئ باندې بل شان سیلئ راوسته | اودوئ خپل فصل زیړ اووینی | نو ددې

مِنْۢ بَعْدِهٖ	یَكْفُرُوْنَ ۝

روستو دهغې نه | چې انکار به کوي |

نه پس به هم په (زړونعمتونو) ناشکرې اوکړي

قوله تعالی:: اَللّٰهُ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ
یخې یخې هواکانې اوباران دالله ﷻ د قدرت دلائل دی:- الله تعالی بیان فرمائی چه هغه هواکانې رالیږی.چه وریځې راوچتې کړی یاخودسمندرونونه یاځنګه چه اودچرته نه چه دالله تعالی حکم وی.بیارب العالمین وریځې لره په اسمان باندې خوره کړی.دازیاته کړی،لږې لره زیاته کړی.تاسوبه اکثرلیدلې وی چه یوه لیشټ یادوه لیشتې وریځ راغله اوبیاچه خوره شوه نوداسمانونوغاړې ئې پتې کړې،اوکله به موداهم لیدلې وی چه دسمندرونونه داوبوډکې وریځې اوچتیږی.هم دامضمون په ایت ﴿وَهُوَالَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ﴾ الخ..کښې بیان فرمائیلې دې بیاهغۀ توتې اوتهه درتهه کړی.هغه داوبودوجې نه توریږی،زمکې سره نزدې شی بیاباران دهغه وریځونه په وریدوشی.چرته چه اووریږی دهغۀ ځانې خلق په خوشحالو شی، بیافرمانی چه هم دغه خلق دباران نه ناامیده شوې وو،دپوره ناامیدۍ په وخت بلکه دناامیدۍ نه پس په دوی باندې بارانونه اووریدل اوهرطرف ته اوبه اوبه شی،دوه ځله(من قبل) لفظ راوستل دتاکیددپاره دی. د،ه، ضمیر مرجع(انزال)دی.اوداهم کیدې شی چه داتاسیسی دلالت وی. یعنی دباران کیدونه مخکښې دوی ددې محتاج وو.اوهغه حاجت پوره شی اودهغې نه مخکښې په وخت ختمیدوباندې دباران نه کیدوپه وجه دوی مایوسه شوی وو.بیاددې ناامیدۍ نه پس ناګهانه وریځې راوچتیږی اوباران وروی،اوهرطرف ته اوبه په نظر راځی،اودهغوی اوچه زمکه ترشی.قحط سالی په ترسالۍ کښې بدله شی،یاخودازمکه یواوچ میدان وواوس هرطرف ته شینکې په نظرراځی،

قوله تعالی:: اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْیِ الْمَوْتٰی
اوګورئ پروردګارعالم دباران په وجه مړه زمکه څنګه ژوندۍ کوی؟یادساتئ چه دکوم الله تعالی داقدرت تاسووینئ هغه یوه ورځ مړولره هم دهغوی دقبرونونه راویستونکې دی.هرکله چه دهغوی بدنونه به خاورې شوې وی.پوهه شئ چه الله تعالی په هرڅه باندې قدرت لری.بیافرمائی چه کۀ مونږ تیزه هواوچلوواوطوفانونه راشی اوددوی داشنۀ پتی بربادشی نودوی بیاکفرکول شروع کړی.نوپه سوره واقعه کښې هم دغه بیان شوې دی.﴿ اَفَرَءَیْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ۝﴾ نه ﴿ فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ۝﴾ پورې.

قوله تعالی:: وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِیْحًا
حضرت عبدالله بن عمرﷺفرمائی چه هواګانې اتۀ قسمه دی.څلوردرحمت دی اوڅلوردزحمت.ناشرات، مبشرات، مرسلات، او ذاریات، خو درحمت دی.اوعقیم،صرصر،عاصف،اوقاصف دعذاب دی.په دې کښې اولنۍ دوه داوچې دی.اوداخری دوه دلمدې. حضوراکرمﷺفرمائی چه هواګانې ددویمې نه مسخردی یعنی ددویمې زمکې نه،کله چه الله تعالی دعادیانو د هلاکت اراده اوفرمائیله نود هواګانودارغه ته ئې داحکم ورکړو،هغه تپوس اوکړوچه جناب باری تعالی!ایازۀ دهواګانوپه خزانه کښې دومره سورې اوکړم څومره چه دغوئی سپیرمه وی؟نودالله تعالی دطرف نه ورته فرمان اوشوچه نه نه که داسې اوشونوتوله زمکه اوڅه چه په زمکه کښې دی تول به وران ویجارشی.دومره نه،بلکه دومره سورې اوکړه څومره چه په ګوته کښې وی.اوس صرف ددومره سورې نه هواوچلیده ترکوم ځائې پورې لاړه هغه ځائې بربادکړو.په څه څیزچه تیره شوه هغه ئې بې نشانه کړه.داحدیث غریب دې اوددې مرفوع کیدل منکردی. زیاته ظاهره داده چه دا په خپله دحضرت عبدالله بن عمرﷺقول دې.

فَاِنَّكَ	لَا تُسْمِعُ	الْمَوْتٰی
پس بیشکه تۀ	نۀ شی اورولې (خبره)	مړوته
نو ته مړو ته خبرې اورولې نشې		

Scanned with Ca

وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَآ اَنْتَ
او نه شی اورولې | کنړو ته | بلنه | کله چې | اوګرځی | شاکونکی | اونه نې ته |
اوکنړو ته آواز رسولې نشی چې کله درته هغوئ شاکړی | ته خو بس هغه
بِهٰدِ الْعُمْيِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ
لارښودونکې | رڼدوته | دګمراهئ دهغوئ نه | ته نشی اورولې | مګر | هغه چاته | چې ایمان راوړی
چاته (ددین) خبره اورولې شې | .....چې زمونږ په ایتونو
بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾
په آیتونو زمونږه | پس هغوئ | غاړه ایښودونکی دی |
یقین ساتی | اوهم د هغه فرمانبردار دی |

قوله تعالی:: فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى

ایامړی هم اوری؟:-باری تعالی عزوجل فرمائی چه څنګه داستاد وس طاقت نه بهرده،چه مړی کوم چه په قبرونوکښې دی ته ورته خپل اوازواوروی،اوځنګه چه دانامکنه ده چه کونړکس هرکله چه هغه مخ اړولې روان وی ته ورته خپله خبره واورولې شې،هم دغه شان کوم چه دحق نه ړاندۀ دی نوتۀ دهغوی رهبری اودهدایت طرف ته راوستل نه شې کولې.اوالله تعالی په هرځیزباندې قادردې.هغه چه کله اوغواړی مړوته دژوندواوازهم اورولې شی،هدایت اوضلالت دهغۀ دطرف نه دې.ته خوصرف هغوی نه اورول کولې شې،څوك چه ایمانداروی اوالله تعالی په وړاندې تیتدونکی وی.دهغۀ فرمانبرداره وی اوداخلق حق اوری هم اومنی ئې هم.داحالت خودمسلمان شو،اوددې نه مخکښې کومه خبره چه بیان شوې وه هغه دکافرده.څنګه چه په بل ایت کښې ﴿ اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ ۘ ﴾ الخ...ستااوازبه هم هغه قبلوی چه په غورسره ئې اوری.مړی به الله تعالی راژوندی کړی بیابه ټول دهغۀ طرف ته واپس کړې شی.په بل روایت کښې دی چه حضورﷺهغه مشرکانوته کوم چه په جنګ بدرکښې د مسلمانانو دلاسه قتل شوې وو،اودبدرپه کندوکښې دهغوی لاشونه غورځولې شوې وو،دهغوی دمرګ نه دری ورځې پس هغوی ته خطاب اوکړواوهغوی نې اورټل،اوغیرت نې وروستو،حضرت عمرؓچه دااولیدل نوعرض نې اوکړو،چه یارسول اللهﷺاتاسوهغوی ته خطاب کوئ چه مړۀ شوې دی،نوحضورﷺورته اوفرمائیل قسم مې دې په هغه ذات وی دچاپه قبضه کښې چه زماساه ده تۀ هم زماداخبره کومه چه زۀ دوی ته کوم دومره نه اورې څومره ئې چه دوی اوری.اودوی جواب نه شی ورکولې،حضرت عائشهؓچه داواقعه دحضرت عبدالله بن عمرؓدخولې نه واوریده نووې فرمائیل چه حضورﷺداسې فرمائیلې دی چه دوی ته اوس ښه پته ده چه مابه دوی ته څه وئیل هغه حق دی. بیاحضورﷺدمړونه اوریدوپه دې ایت باندې استدلال اوکړو،﴿اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى﴾ حضرت قتاده فرمائی چه الله تعالی دوی ژوندی کړې وو تر دې پوری چه دحضورﷺخبره دوی واوریده،چه دوی ته پوره پوره پښیمانتیااوشرمندګی وی. خودعالمانوپه نزددحضرت عبدالله بن عمرؓروایت بالکل صحیح دې.ځکه چه ددې ډیر شواهد دی .ابن عبدالبر دابن عباسؓنه مرفوعاً یوروایت دصحت سره نقل کړې دی چه کوم دخپل یورور په قبرباندې تیریږی کوم چه دۀ په دنیاکښې پیژندواوسلام ورته کوی نوالله تعالی دهغۀ روح واپس کړی تردې پورې چه هغه جواب ورکړی.

Scanned with Ca

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ
ا الله هغه ذات دي ا چې پيدا ئې کړې تاسو ا
ا الله ﷻ هغه ذات دي چې تاسو ئې د کمزورئی
مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ
دکمزورئ دحالت نه ا بيا ئې درکړو ا روستو ا د(دې) کمزورئ نه ا طاقت ا بيا ئې درکړه ا
په حالت کښې پيدا کړئ ا بيا د کمزورئ نه پس ئې طاقت درکړو ا بيائې د(ځوانئ) دطاقت نه
مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَيْبَةً ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ
روستو ا دقوت نه ا کمزورى ا او بوډا والى ا پيدا کوى ا هغه ا چې غواړى هغه ا
پس کمزورى راوسته ا اوبوډاتوب ئې راوستلو ا هغه چې څه غواړى نو هغه پيدا کوى
وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ۝ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ
او هغه په هر څه پوهه دي ا او قادر دي ا او په کومه ورځ ا چې قائميږى ا قيامت ا
او الله ﷻ په هرڅه پوهه او په هرڅه قادر دي ا او په کومه ورځ چه قيامت قيامت راشى
يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ مَا لَبِثُوْا غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ
نو قسمونه به خورى ا مجرمان خلق ا چې وخت نه دي تير کړي هغوئ ا بې ديوساعت نه ا
نو مجرمان بۀ قسمونه خورى ا چې مونږ (په دنيا کښې) د لږ وخت نه زيات پاتې شوى نه وو
كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ
دارنګې ا ووٴ هغوئ ا چې دوکې به ئې خوړلې په دنيا کښې ا او وائى به ا هغه کسان ا
دوئ په دنيا کښې هم داشان اړولى چليدل ا .....اوکومو کساتو ته چه الله تعالى علم او
اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ
چې ورکړې شوې ووٴ ا علم ا او ايمان ا چې وخت تير کړې دي تاسو ا په کتاب دالله کښې ا
ايمان (دواړه) ورکړې وو ا هغوئ به اووائى چې تاسو دالله ﷻ دليک مطابق (په موجود
اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ۚ فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ
دورځې دراپورته کيدو پورې ا پس داده ا ورځ دپورته کيدو ا وليکن تاسو ا وئ
موده کښې قيامت تر ورځې پورې پاتې شوى يئ ا نودا نن دٴ قيامت هغه ورځ ده ا مګر
لَا تَعْلَمُوْنَ ۝ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا
چې نه پوهيدئ ا پس په دغه ورځ به ا فائده نه ورکوى ا هغه کسانوته ا چې ظلم ئې کړې دي
تاسوپرې نه پوهيدلئ ا نو په دغه ورځ به ظالمانو ته خپل عذرونه هيڅ فائده ورنکړى

Scanned with Ca

مَعْذِرَتُهُمْ	وَلَا هُمْ	يُسْتَعْتَبُونَ ﴿۵۷﴾
عذر دهغوئ	اونه به هغوئ	اوبللې شی رضا دالله ته
اونه به دوی ته دالله ﷻ دراضی کولو موقع ورکړې شی		

قوله تعالی:: اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ

دانسان اصل څو دي:: -دانسان په ترقئ اوتنزلئ باندې نظرواچوئی ددۀ اصل خوخاوره ده،بیادنطفې نه، بیا دوینې نه،بیادغو بنې دټکړې نه،بیائی هډوکوته غوښه واغوستې شی،بیا هډوکوته څرمن ورواغوستې شی،بیاپه کښې روح واچولې شی،بیاد موردخیتې نه کمزورې اوناتوان پیداشی،بیاپه لږ لږ غټیږی ،اومضبوط شی،بیادماشوموالی دزمانې مزې واخلی، بیاځوانې ته رانزدې شی،بیاځوان شی، او اخر ترقی ئې اودریږی.اوس اندامونه ئې بیاپه کمزورې کیدوشروع شی،طاقت ئې په کمیدوشی،نیم ځوانئې عمرته اورسی،بیابوډاشی اوبیامکمل بوډاشی.دطاقت نه پس داکمزوری هم قابل عبرت وی، چه همت ئې کم وی،اوریدل،لیدل،تګ راتګ،ناسته پاسته،راخستل ،نیول غرض دهرڅه څیزطاقت ئې کم شی.اوپه مزه مزه بالکل ختم شی.اوټول صفتونه ئې متغیرشی.بدن ئې چیچړ شی،اننګی پکښې ننوځی،غاښونه ئې مات شی،ویښتۀ ئې سپین شی،داددې دهغۀ طاقت نه پس ضعف اوبوډاتوب،هغۀ چه څه غواړی کولې شی،جوړول اوورانول دهغۀ دقدرت ادنی کرشمې دی.ټول مخلوق دهغۀ غلام،هغه دټولومالك،هغه عالم،هغه قادر،نه دهغۀ په شان دچاسره علم شته اونه دهغۀ په شان قدرت،حضرت عطیه عوفی وائی چه مادااایت(ضعفا)پوري دضادپه پیش سره دحضرت ابن عمرﷺپه وړاندې اولوستو نو هغوی هم دا تلاوت اوفرمائیلو،اووې فرمائیل چه ماهم درسول اللهﷺپه وړاندې دااایت دومره لوستې وو، چه تااوونیلو،لکه څنګه چه ماستاپه قرات باندې قرات شروع کړو (ابوداود، ترمذی، مسند احمد)

			وَيَوْمَ	تَقُوْمُ السَّاعَةُ
			او په کومه ورځ	چې قائمیږی قیامت
			او په کومه ورځ چه قیامت قیامت راشی	
يُقْسِمُ	الْمُجْرِمُوْنَ ۙ	مَا لَبِثُوْا		غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ
نو قسمونه به خوری	مجرمان خلق	چې وخت نۀ دې تیر کړې هغوئ		بې دیوساعت نه
نو مجرمان بۀ قسمونه خوری	چې مونږ (په دنیا کښې) د لږ وخت نه زیات پاتې شوی نه وو			
كَذٰلِكَ	كَانُوْا	يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾	وَقَالَ	الَّذِيْنَ
دارنګې	ووئ هغوئ	چې دوکې به ئې خوړلې په دنیا کښې	او وائی به	هغه کسان
دوئ په دنیا کښې هم داشان اړولی چلیدل	.....اوکومو کساتو ته چه الله تعالی علم او			
اُوْتُوا	الْعِلْمَ	وَالْاِيْمَانَ	لَقَدْ لَبِثْتُمْ	فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ
چې ورکړې شوې ووئ	علم	او ایمان	چې وخت تیر کړې دې تاسو	په کتاب دالله کښې
ایمان (دواړه) ورکړې وو	هغوئ به اووائی چې تاسودالله ﷻ دلیک مطابق (په موجود			

Scanned with Ca

اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ۙ	فَهٰذَا	يَوْمُ الْبَعْثِ	وَلٰكِنَّكُمْ	كُنْتُمْ
دورځې دراپورته کیدو پورې	پس دادہ	ورځ دپورته کیدو	ولیکن تاسو	وئ
موده کښې قیامت تر ورځې پورې پاتې شوی یئ	نودا	ن د قیامت هغه ورځ ده	مګر	
لَا تَعْلَمُوْنَ ۝	فَيَوْمَئِذٍ	لَّا يَنْفَعُ	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا
چې نۀ پوهیدئ	پس په دغه ورځ به	فائده نۀ ورکوی	هغه کسانوته	چې ظلم ئې کړې دې
تاسو پرې نه پوهیدلئ	نو په دغه ورځ به ظالمانو ته خپل عذرونه هیڅ فائده ورنکړی			
مَعْذِرَتُهُمْ	وَلَا هُمْ	يُسْتَعْتَبُوْنَ ۝		
عذر دهغوئ	اونۀ به هغوئ	اوبللې شی رضا دالله ته		
اونه به دوی ته دالله ﷻ دراضی کولو موقع ورکړې شی				

قوله تعالی:: وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ

په دنیا کښې هم ددروغوقسمونه اوپه اخرت کښې هم:- الله ﷻ خبرورکوی چه کافران ددنیااواخرت دکارونونه بالکل جاهل دی.ددوی ددنیاجهالت خودادې چه دالله تعالی سره نورشریکوی،اوپه اخرت کښې به داجهالت کوی چه قسمونه به خوری اووائی به چه مونږ په دنیاکښې څه لږ شان وخت پاتې وو.

ددې نه به ددوی مقصدداوی چه د دومره لږ وخت په مونږ څه حجت قائمیدې نه شی.مونږ دې معذوره اوګڼلې شو.خکه ئې اوفرمائیل چه دوی دلته څنګه ګډې وډې خبرې کوی په دنیاکښې هم دوی بې لارې وو،فرمائی چه ددوی په دې ویناباندې څنګه چه به په دنیاکښې ددوی علماء کرامودوی دقائله کولوکوشش کوو،په اخرت کښې به هم دوی ته اووائی چه تاسوددروغوقسمونه خورئ.تاسوپه کتاب الله کښې یعنې په کتاب الاعمال کښې دپیدائش نه واخله تردوباره پیداکیدوپورې اوسیدئ، خو تاسو بې علمه اوبالکل جاهلان خلق ئې.پس دقیامت په ورځ به ظالمانولره خپلوکړوباندې معذرت کول بې فائدې وی.اوهغوی به دنیاطرف ته واپس نه کړې شی.څنګه چه فرمان دې. ﴿وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ۝﴾ یعنی که هغوی دنیاطرف ته واپس راتلل اوغواړی نوراتلې نه شی

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا	لِلنَّاسِ			
	او بیان کړی دی مونږ په	دپاره دخلقو		
	اومونږ د خلقو دفائدې دپاره			
فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ	مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ	وَلَئِنْ	جِئْتَهُمْ	بِاٰيَةٍ	لَّيَقُوْلَنَّ
په دې قرآن کښې	هر قسم مثالونه	اوکه	راوړې تۀ دوئ ته	یوه نښه	نو خامخا به وائی
په دې قرآن پاک کښې هر قسم مضامین بیان کړی دی اوکه چرې ته دې کافرانو ته څه معجزې پیش کړې					
الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِنْ اَنْتُمْ	اِلَّا	مُبْطِلُوْنَ ۝	
هغه کسان	چې انکار کړې دې هغوئ دمنلو نه	چې نۀ یئ تاسو	مګر	باطلونکی یئ	
نو بیا هم چا چې کفر کړې دې	هغوئ به داوینا کوی چې تاسو خوبس دروغژن یئ				

Scanned with Ca

كَذٰلِكَ	يَطْبَعُ اللّٰهُ	عَلٰى قُلُوْبِ	الَّذِيْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٩﴾
همدارنګې [تاپه (مهر) وهی الله		په زړونو	د هغه کسانو	چې علم نه لري
دغه شان الله ﷻ دهغه خلقو په زړونو مهرلګوی		..... کوم کسان چې نه پوهیږی		
فَاصْبِرْ	اِنَّ	وَعْدَ اللّٰهِ	حَقٌّ	وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ
پس صبر کوه (اے نبی ﷺ)	بیشکه	وعده دالله	حقه ده	او هر ګز سپک اونه مومی تالره
نو ته صبر کوه	دالله ﷻ وعده ریښتینې ده		او (خیال ساته) چې دابې یقینه خلق	
الَّذِيْنَ	لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٦٠﴾			
هغه کسان	چې یقین نه کوی			
تا قابو نه کړې شی				

قوله تعالی:: وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ

او ستا مسئله بالکل واضح خو دوئ ضدیان دی:-حق مونږ په دې پاک کلام کښې پوره پوره واضح کړې دې.اوپه مثالونوسره موږې پوهه کړی دی.چه په خلقودانښکاره شی،اوددې په تابعداریٔ کښې اولګی.که دوی ته هرڅنګه معجزه راشی که هرڅنګه دحق نشان اووینی نودوی به فوراًبغیردڅه غوراوفکرنه اووائی چه داجادودې.باطل دې.دروغ دی،اوګوریٔ سپورمیٔ نې دوه ټکړې کیدل اولیدل اوایمان نه راوړی.

په خپله په قران کریم کښې ایت ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ﴾ الخ...کښې دی.چه په چاباندې ستادرب خبره پوره شوې ده هغوی به ایمان نه راوړی،ګوکه هغوی ته هرقسمه نشانات راشی،تردې پورې چه هغوی ددردناك عذاب معاینه اوکړی.پس دلته هم فرمائی چه ددې بې علمه خلقوپه زړونوباندې هم داسې مهراولګی،

قوله تعالی:: فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

حضورﷺته زړه مه خفه کوه دالله تعالی وعده رښتونیې ده ::اې نبی کریمﷺته صبراوکړه،اوددوی مخالفت اودشمنیٔ بانې صبرکوه.دالله تعالی وعده رښتونی ده.هغه به تاپه دوی باندې یوه ورځ ضرورغالبه کوی.اوستامددبه کوی،اوپه دنیا او اخرت کښې به تاته اوستاتابعداروته په مخالفینوباندې غلبه ورکوی.تاته پکاردی چه په خپل کښې لګیا اوسې،په حق مضبوط اودریږه،اویوانچ هم اخوادیخواکیږه مه،په دې کښې ټول هدایت دې ، باقی ټول دباطلوډهیرې دې.حضرت قتادهmفرمانی چه حضرت علی﵁یوه ورځ دسحرمونځ کولو،یوخارجی دهغوی نوم واخستو او په زوره زوره ئې ددې ایت تلاوت اوکړو﴿ وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٥﴾﴾ دوی په خاموشیٔ سره دایت واوریدواوپه مونځ کښې ئې ددې جواب په ایت﴿ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٦٠﴾﴾ تلاوت اوفرمائیلو،(ابن جریر،ابن ابی حاتم) (هغه حدیث په کوم کښې چه ددې سوره مبارك فضیلت اوددې د سحرپه وخت کښې تلاوت په مانځه کښې مستحب کیدل ثابتیږی.)

یوصحابی﵁فرمانی چه حضورﷺیوه ورځ دسحرمونځ په ورکولوکښې ددې سورت قرات اوفرمائیلو، دقرات په دوران کښې هغوی ته څه وهم شان اوشو،چه فارغ شونووې فرمائیل،په تاسوکښې بعضې خلق داسې دی چه زمونږ سره په مانځه کښې شریك شی ولې باقاعده اوټیك اودس نه کوی،تاسوکښې چه څوك زمونږ سره په مانځه کښې شریکیږی هغۀ له په ښه طریقې سره اودس کول پکار دی. (مسند احمد) ددې اسنادحسن دی.متن هم حسن دې.اوپه دې کښې یوه عجیبه رازاولویه خبره ده اوهغه داچه

Scanned with Ca

د حضور ﷺ دمقتدیانو دصحیح اودس نه کیدو اثر په حضور ﷺ باندې پریوتو، پس ثابته شوه چه د مقتدیانو دمونځ تعلق دامام دمونځ سره دي. (الحمدلله) دسورة روم تفسیر ختم شو.

| | | |

وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝
دروندوالي وی	پس زيرې ورکړه په عذاب	دردناک سره	
نو(ائې پيغمبره) ددردناک عذاب زيرې ورته ورکړه	

قوله تعالى:: هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۝

قران هدايت رحمت اوشفاءده:- دسوره بقرې دتفسيرپه اول کښې دحروف مقطعاتومعنى اومطلب واضح کړې شوې دې.داقران هدايت شفاء،اورحمت دې.دهغه نيکوکارودپاره چه دشريعت پوره پابند وی. مونځونه اداکوی.دارکانو اوقاتووغيره دحفاظت سره سره نوافل اوسنت وغيره هم نه پريږدی.فرض زکواة اداکوی،صله رحمی،سلوك اواحسان،سخاوت کوی، داخرت په جزادهغوی کامل يقين دی، د دې وجې نه دالله تعالى طرف ته پوره پوره رغبت کوی.دثواب کارونه کوی،اودالله تعالى په اجرباندې نظرساتی.نه رياکاری کوی اونه دخلقونه شاباش غواړی.ددې اوصافوخاوندان په نيغه لاره دی،دالله تعالى په لاره باندې لګولې شوې دی.اوهم دغه هغه خلق دی چه په دين اودنياکښې فلاح خلاصې اوکاميابی حاصلونکی دی.

قوله تعالى:: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ

کاني ميوزک موسيقی دکافرانوخوی دې او د ايت مطلب اتفاق سره هم ده دې:- پورته بيان شوې ووچه نيك بخت چاچه دالله تعالى دکتاب نه هدايت بياموندواودهغې په اوريدوسره به نې نفع حاصلوله، نو دلته بيان کيږی چه دهغه بدبختانو څوك چه دکتاب الله داوريدونه نفع نه حاصلوی اودهغې په خانې ډول باجې اوری،چنانچه ددې ايت په تفسيرکښې حضرت عبدالله بن مسعودؓفرمائی،په الله تعالى مې دې قسم وی ددې نه مرادسندرې اوسازونه دی.په بل ايت کښې دی چه دحضورﷺنه ددې ايت د مطلب پوښتنه اوشوه نوحضورﷺدې څله قسم اوخوړواووې فرمائيل چه ددې نه مرادسندرې اوسازونه دی.هم دغه قول دحضرت ابن عباس ؓ ،جابرؓ،سعيدبن جبير،مجاهد ،مکحول،عمروبن شعيب، علی ابن هذيمه رحمة الله عليهم دې. امام حسن بصریm فرمائی چه دااايت دسندرو او سازونوپه باره کښې نازل شوې دې.حضرت قتاده ؓ فرمائی چه ددې مرادصرف هغه نه دی چه په دې لهولعب کښې پيسې خرچ کوی دلته داخستلو نه مرادخوښول اومحبت ورسره ساتل دی.دانسان دپاره هم دغه ګمراهی کافی ده چه دباطل خبره په حق باندې خوښه کړی.اودنقصان څيزدنفعې په څيزباندې مقدم کړی.يوقول داهم دې چه دلغوخبرې اخستلونه مرادسندرغاړو وينځو اخستل دی.چنانچه په ابن ابی حاتم وغيره کښې درسول اللهﷺدافرمان دې چه دګانې وئيونکواخستل اوخرڅول حلال نه دی.اوددې دقيمت خوراك حرام دې.هم ددوی په باره کښې دااايت نازل شوې دې.امام ترمذی هم داحديث راوړې دی اودې ته نې غريب ونيلې دې،اوددې يوراوی علی بن يزيدته ضعيف ونيلې دی.زهٔ وائيم چه په خپله علی بن يزيد ،دهغهٔ استاذان اودهغهٔ ټول شاګردان ضعيف دی.والله اعلم.دضحاك m قول دې چه ددې مرادشرك دې.دامام ابن جريرفيصله داده چه هره هغه خبره چه دکلام الله اودشرع داتباع نه دې منع کړی هغه ددې ايت په حکم کښې داخل نه دې.

قوله تعالى:: وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا

غرض ددې نه داسلام اواواهل اسلام مخالفت دې. په يوقرات کښې (ليضل)دې نولام به لام عاقبت وی،يالام تعليل به وی.يعنی امرتقديری به دې کارګزارئ سره خامخاکيږی.داسې خلق دالله تعالى لاړې لره ټوقې خندا جوړه کړی.اودالله تعالى ايتونوپورې هم ټوقې کوی،اوس ددوی انجام هم واورئ چه څنګه دوی دالله تعالى لار،دالله تعالى کتاب،پورې ټوقې مسخرې اوسپکاوې کړې وی دقيامت په

Scanned with Ca

ورځ به ددوی سپکاوي اوکړي شی. اوپه خطرناکو عذابونو کښې به ذلیل اورسواکړي شی. بیابیان کیږی چه دابدنصیبه چه په سندرو او سازونو او لوبو توقوب اندي مئین دي. دقران دایتونونه تختی اودهغې نه غوږونه کانړۀ کړی،دي داپه دۀ ښه نه لګی،اوری ئې خوهیڅ توجونه ورکوی،بلکه ددي اوریدل پرې ښه نه لګی،هیڅ مزه نه ورکوی،هغه دافضول کارګنړی،چونکه دهغۀ په زړۀ کښې ددي هیڅ اهمیت اوعزت نشته نوددي وجې نه هغه ددي نه څه نفع نه شی حاصلولې،هغه ددي نه محض بې پرواه دي.خیردلته دالله تعالی په ایتونوباندي زړۀ تنګي کیږی،نودقیامت په ورځ به هم هغه عذابونه وی چه ډیربه پرې تنګ شی.دلته قرانی ایتونواوریدوسره ورته خفګان وی هلته به تکلیف رسونکی عذابونه خامخاتیروی.

				إِنَّ الَّذِينَ	آمَنُوا
				بیشکه هغه کسان	چی ایمان راوړی
				بیشکه څوک چې ایمان راوړی	
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ		لَهُمْ	جَنَّاتُ	النَّعِيمِ ۝٨ لَا	خَالِدِينَ
اوعملونه اوکړی نیك		دی دهغوئ دپاره	جنتونه	دنعمتوتو	همیشه به وی هغوئ
اودنیکئ کارونه کوی		هغوئ لره د نعمتونو باغونه تیاردی		چې همیشه به په کښې	
فِيهَا ۖ	وَعْدَ اللَّهِ	حَقًّا ۖ	وَهُوَ	الْعَزِيزُ	الْحَكِيمُ ۝٩
په هغې کښې	دا وعده دالله ده	حقه (پخه)	او هغه	غالب دي	دحکمت خاوند دي
(خوشحاله) اوسیږی	دا دالله ﷻ پخه وعده ده		او هغه زبردست اوصاحب د حکمت دي		

قوله تعالی:: إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

قران منونکی دپاره زیر.:-دنیکانوخلقوانجام بیانیږی چه چاپه الله تعالی باندي ایمان راوړو ، رسول الله ﷺ مني منلو،دشریعت لاندي ئې نیك کارونه کول،دهغوی دپاره جنتونه دی.چه په کښې قسما قسم نعمتونه،خونده ورخوراکونه،بهترینې جامې،ښه ښه سورلئ،پاکیزه اونورانی مخونووالا بیبیانې دی.هلته دوی لره اودي نعمتونولره همیش والي دي کله زوال نشته،نه خوبه دوی مړۀ کیږی اونه به دا نعمتونه فناکیږی اونه به کمیږی،اونه به خرابیږی.داخامخااویقیناً کیدونکی دی.ځکه چه الله تعالی فرمائیلي دی اودالله تعالی خبرې بدلیږی نۀ،اودهغۀ وعدي ماتیږی نۀ.هغه کریم دي،منان دي، محسن دي، منعم دي،څه چه غواړی کولې شی.په هرڅیزباندي قادردي،عزیزدي.هرڅه دهغۀ په قبضه کښې دی.حکیم دي،هیڅ کار،هیڅ خبره ئې دحکمت نه خالی نه ده.هغه قران حکیم لره دمومنانودپاره هادی او شافی جوړکړي دي.اودبې ایمانوپه غوږونوباندي بوج دي.اوپه سترګوکښې ئې ړوندوالي دي. په بل ایت کښې دی(وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ۙ)یعنی کوم قران چه مونږ نازل کړي دي هغه د مومنانو دپاره شفاء اورحمت دي.اوظالمان خوپه نقصان کښې زیاتیږی.

خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	بِغَيْرِ عَمَدٍ	تَرَوْنَهَا	وَأَلْقَى	
هغه پیدا کړل	اسمانونه	بې دستنونه	چې تاسو وینئ هغه	اواوغورزول هغه	
هغه اسمانونه بې د ستنو اودرولی دی		چې تاسو پخپله وینئ	او په زمکه ئې د		

Scanned with Ca

فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيهَا
په زمکه کښې	غرونه	چې اونۍ خوزيږي	په تاسو	او خوراه کړل هغه	په دې کښې
غرونو ميخونه لګولی دی	چې په تاسو نه جړقيږي	اوهر قسم ځناور ئې په کښې
مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ ۚ وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنْبَتْنَا
هر قسم ګرزنده ځناور	او نازلې کړې مونږه	داسمان نه اوبه	پس زرغون کړل مونږه
خواره کړی دی	..... او مونږ د اسمان نه اوبه راوورولې	او په زمکه کښې مو
فِيهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ۝ هٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي
په هغې کښې	دهر قسم (ځيزونو)	ښوښونه	دا پيدا وښت دالله دی	پس اوښایئ ماته
هر قسم ښه ځيزونه رازرغون کړی دی	دا خو دالله ﷻ جوړ کړی ځيزونه شول
مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِ ۚ بَلِ الظَّالِمُونَ فِي ضَلَالٍ
چې کوم څېز	پيدا کړې دی	هغه کسانو	چې سوا دهغه نه دی	بلکه	دا ظالمان	په ګمراهئ
نو دالله ﷻ نه سوا دوی (د دوی خدايانو) څه پيدا کړی دی	حقيقت دا ددې چې داخلق په ښکاره
مُبِينٍ ۝ ع
ښکاره کښې دی	
ګمراهئ کښې دی	

قوله تعالی:: خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

دزمکې اواسمان خالق الله تعالی دی:- الله سبحانه وتعالی دخپل قدرت کامله بيان فرمائی چه دزمکې اواسمان اودټولومخلوقاتوخالق صرف هم هغه دی.اسمان هغۀ بې ستنواوچت کړې دی.اوپه واقعی کښې هم هيڅ ستنه نشته.ګودحضرت مجاهدm داهم قول دی چه ستنې مونږ ته په نظرنه راځی.ددې مسئلې پوره فيصله مادسوره مائدې په تفسيرکښې ليکلی ده.ددې وجې نه دلته ددوباره وئيلو ضرورت نشته.دزمکې دمضبوطتيادپاره اودخوزيدونه دبچ کيدودپاره هغۀ په دې باندې د غرونو ميخونه ټك وهلی دی.چه هغه تاسودزلزلې اوخوزيدونه بچ کړی.هم دغه شان قسماقسم اومختلف ساه لرونکی دې خالق حقيقی پيداکړی دی.چه ترننه پورې چادهغې شماراونه کړې شو.خپل ځان خالق او خلاق بيانولونه پس اوس رازق اورزاق کيدل بيان فرمائی چه ددې اسمان نه ئې باران اوورولواوپه زمکه باندې ئې قسماقسم پيداوارزرغون کړل چه په ليدوکښې خوش نما،په خوراك کښې بې ضرره ، په نفع کښې ډيربهتر،دشعبی قول دی چه انسان هم دزمکې پيداواردی.جنتيان کريم دی او دوزخيان لئيم دی.دالله تعالی داټول مخلوق خوستاسوپه وراندې دی.اوس دچاچه تاسودهغۀ نه علاوه عبادت کوئ لږ شان اووايئ چه دهغوی مخلوق چرته دی؟چه نشته،نوهغوی خالق نه دی.اوکله چه خالق نه دی نومعبودان هم نه دی.بيادهغوی عبادت سخت ظلم اوبالکل بې انصافی ده.بې شکه دالله تعالی سره شريك ګرځونکې نه زيات روند ،کوټ،اوبې عقله،بې علمه،اوبې وقوف به نورڅوك وی؟

وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ
او ورکړې وؤ مونږ	لقمان ته	حکمت	چې شکر کوه	الله لره
او بيشکه مونږ لقمان ته اوهوښيارتيا ورکړې وه	(او اوموئيل) چې دالله شکرکوه

وَمَنْ يَّشْكُرْ	فَاِنَّمَا يَشْكُرُ	لِنَفْسِهٖ ۚ	وَمَنْ كَفَرَ
او څوك چې شكر اوباسي	پس بيشكه هغه شكر اوباسي	دپاره دخان خپل	او چاچې كفر اوكړو
اوڅوك چې شكركوي	نو دخپل ځان دفائدې دپاره ئې دې		اوڅوك چې ناشكرى كوي نو
فَاِنَّ اللّٰهَ	غَنِيٌّ	حَمِيْدٌ ۝	
پس بيشكه الله	محتاجه نه دې	ستائيلې شوې دې	
الله ﷻ بې نيازه دې	ستائيلې شوې دې		

قوله تعالى:: وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ

ايا حضرت لقمان نبى وو: پدې كښې دبزرگانو اختلاف دې چه ايا حضرت لقمان نبى وو يانه؟ اكثر حضرات فرمائى چه دې نبى نه وو، پرهيزگارولى اوالله تعالى خوښ بزرگ بنده وو. دحضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه دې حبشى غلام وو. اوتركان وو. دحضرت جابر ﷺ نه چه كله سوال اوشو نو هغوى اوفرمائيل چه حضرت لقمان دلنډ قدوالا اولوړې پوزې والا دغټوشونډووالا وو. سعيدبن مسيب فرمائى چه دې دمصراوسيدونكى حبشى وو. حكمت دوى ته وركړې شوې وو. خونبوت ورته ملاوشوې نه وو. دوى يوځل دتوررنګ يوحبشى غلام ته اوفرمائيل چه دخپل رنګ په وجه خپل ځان دچانه كم مه گڼه دري كسان چه دټولوخلقونه ښه وو، ددريوواړورنګ تورو. حضرت بلال ﷺ چه دحضور ﷺ درسالت غلام وو. حضرت مهجع ﷺ چه دجناب فاروق اعظم ﷺ غلام وو. اوحضرت لقمان چه دحبشي نه به وو. دحضرت خالدربعى قول دې چه حضرت لقمان كوم حبشى تركان وو يوه ورځ ده ته خپل مالك اوونيل چه بزه ذبح كړه. اوددې دوه بهترينې اوښې دغوښې ټوټې ماته راوړه. دهٔ زړهٔ اوژبه وروړه. څو ورځې پس دهغهٔ مالك بياورته هم دغه حكم وركړو. چه نن ددى په ټوله غوښه كښې چه كومه بدترينه اوخبيثه ټكړه وى هغه راوړه. دوى نن هم هغه دوه څيزونه وروړل. مالك ترې تپوس اوكړوچه څه وجه ده چه كله مې درنه بهترينې ټوټې اوغوښتې نوهم دغه دې راوړې، اوكله چه مې درنه بدترينې اوغوښتې نوهم دې دغه راوړې. داڅه خبره ده؟ دوى ورته اوفرمائيل چه كله دانبه وى نوددې نه بهترينه حصه بله په بدن كښې نشته. اوكله چه دابدې شى نوبيادټولونه بدترې هم دادى. دحضرت مجاهد قول دې چه حضرت لقمان نبى نه وو. نيك بنده وو. دتوررنګ غلام وو. دغټوغټوشونډووالا اودغټوغټوخپووالا وو. دبل بزرګ نه هم دغسې روايت دى چه په بنى اسرائيلوكښې قاضى وو. بل قول دې چه دوى دحضرت داود ﷺ په زمانه كښې وو. يوځل دى په يومجلس كښې وعظ فرمائيلوچه يوشپونكى اوليدو نووې وئيل چه هغه نه ئې چه ماسره به دې په فلانى ځائې كښې بزې سرولې؟ دوى ورته اوفرمائيل چه زهٔ هم هغه يم. هغهٔ ورته اوونيل چه بياتاته دامرتبه څنګه ملاوشوه؟ وې فرمائيل دربښتياووئيلوپه وجه، اوبې فائدې كارونوپريښودوپه وجه. غرض داچه هم داقسمه آثار دى چه دوى نبى نه وو. ليكن په دې كښې هم ددوى غلام كيدل بيان شوى دى. چه ثبوت دې ددې كارچه دې نبى نه وو. ځكه چه غلامى دنبوت خلاف ده. انبياء ﷺ به داوچت نسب والا اوداعلى خاندانونووالا وو.

د جمهورو قول دادې چې نبى نه وو:: ددې وجې نه دجمهوروبزرګانوقو ل دې چه حضرت لقمان نبى نه وو. اودحضرت عكرمه ﷺ نه مروى دى چه دې نبى وو. ليكن هم هله چه دسندنه ثابت شى. ليكن ددهٔ په سند كښې جابربن يزيدجعفى دې چه ضعيف دې. والله اعلم. وائى چه حضرت لقمان حكيم ته يوكس اوونيل چه ته دنبى حسحاس غلام نه ئې؟ دوى ورته اوفرمائيل يم. هغهٔ ورته اوونيل چه ته شپونكې نه ئې؟ دوى ورته اوفرمائيل چه اوزه يم. وې وئيل ته دتوررنګ والا نه ئې؟ دوى ورته اوفرمائيل ظاهره ده زهٔ

Scanned with Ca

دتوررنګ والا یم.تۀ راته اووائیه تۀ دځه تپوس کول غواړې؟هغۀ ورته اووئیل چه هم دغه چه بیاځه وجه ده چه ستامجلس ډك وی خلق ستادروازې ته راځی،اوستاخبرې په شوق سره اوری؟دوی ورته اوفرمائیل چه واوره روره کومې خبرې چه زۀ تاته کوم په هغې عمل اوکړه نوتۀ به هم زماپشان شې.سترکې دحراموځیزونونه بندې کړه.ژبه دبې هوده خبرونه منع کړه.حلال مال خوره،دشرمګاه حفاظت کوه،په ژبه ربښتونې خبرې کوه،وعده پوره کوه،دمیلمه عزت کوه،دګاونډی خیال ساته،بې فائدې کارونه پریږده، هم ددې خبروپه وجه ماته بزرګی ملاوشوې ده.

حضرت ابوالدرداء﷜فرمائی چه حضرت لقمان دځه لویې کورنۍ والا مالداراوزیات خاندان والا نه وو.خوپه هغۀ کښې ډیربښه بښه عادتونه وو.هغه خوش اخلاقه،خاموش،غوراوفکرکونکې د ژور نظر والا، دورځې نه اودۀ کیدونکې وو،دخلقوپه وړاندې به ئې لاړې نه توکلې اونه به ئې دخلقوپه وړاندې متیازې غسل وغیره کول،دفضول کارونونه به لرې لرې اوسیدو،خندل به ئې نه اوکوم کاربه ئې چه کولودحکمت نه به خالی نه وو.کوم وخت کښې چه ددۀ اولادمړ شودۀ بالکل اونه ژړل.هغه به بادشاهانواوامیرانوته ځکه ورتلوچه غوراوفکراوعبرت نصیحت حاصل کړی.هم ددې په وجه دوی ته بزرګی ملاوشوه،دحضرت قتاده﷜نه یوعجیبه روایت نقل دې چه دۀ ته په نبوت اوحکمت قبلولوکښې اختیارورکړې شونودوی حکمت قبول کړو.شپه په شپه په دۀ حکمت راووریدۀ،اوددۀ په رګ رګ کښې حکمت ډك کړې شو.سحرددۀ خبرې اوعادتونه ټول حکیمانه شو.ددوی نه سوال اوشوچه تاسودنبوت په مقابله کښې حکمت څنګه اختیارکړو؟دوی جواب ورکړوچه که الله تعالی زۀ نبی جوړکړې وې نوهغه بله خبره وه ممکنه وه چه منصب نبوت پوره کړې وې.خوچه کله ماته اختیارراکړې شونوزۀ اووریدم چه چرته داسې اونه شی چه زۀ دنبوت بوج اوچت نه کړې شم.ددې وجې نه ماحکمت خوښ کړو.ددې روایت یوراوی سعیدبن بشیردې په چاکښې چه ضعف دې،فالله اعلم.

د لقمان حکمت څۀ وو؟:: حضرت قتاده﷜ددې ایت په تفسیرکښې فرمائی چه دحکمت نه مراددااسلام پوهه ده.حضرت لقمان نبی نه وو،نه په هغۀ وحی راتله،پس مرادترې پوهه،علم اوعبرت دې.مونږ هغۀ ته خپل شکراداکولوحکم فرمائیلې وو،چه ماتاته کوم عقل اوعلم درکړې دې اوپه نورومې درته کومه بزرګی درکړې ده،په دې تۀ زما شکر اداکړه، شکر ګزار په ماځه احسان نه کوی بلکه خپل ځان سره ښیګړه کوی،څنګه چه په بل روایت کښې دی ﴿ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُوْنَ ﴾ نیکئ والا دخپل ځان دپاره ښیګړې تیاروی،دلته فرمان دې چه که څوك ناشکری اوکړی نوالله تعالی ته دهغې ناشکرئ څه ضررنه رسی،هغه دخپلوبندګانونه بې پرواه دې ټول دهغۀ محتاج دی اوهغه دټولونه بې نیاز دې.که دټولې زمکې والا کافرشی نودهغۀ څه کولې نه شی هغه دټولونه غنی دې اودهغۀ نه سواځوك معبودنشته،مونږ دهغۀ نه علاوه دبل عبادت نه کوو

وَاِذْ	قَالَ	لُقْمٰنُ	لِابْنِهٖ		
او کله چې	اووئیل	لقمان	خوئ خپل ته		
او څه وخت چې لقمان خپل خوئې ته دنصیحت په طور اووئیل					
وَهُوَ	يَعِظُهٗ	يٰبُنَيَّ	لَا تُشْرِكْ	بِاللّٰهِ	اِنَّ الشِّرْكَ
او هغه	نصیحت کوو هغه ته	اے خویه	شریك مه پیدا کوه	دالله سره	بیشکه شرك
چې ائې زما خویه ته دالله ﷻ سره شریك مه جوړوه	..... بیشکه شرك ډیر				

لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۳﴾ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ ۚ

خامخا ظلم دي | لوئ | اووصيت (حكم) كړي دي مونږه | انسان ته | دمور اوپلار دهغه سره (په نيكئ كولو)

لوئي ظلم دي | اومونږ انسان ته دمور پلار سره د نيكئ ډير تاكيد كړي دي | (خكه چې)

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ وَّفِصٰلُهٗ

بار كړي ګورزوؤ ده لره | مور ددۀ | دكمزورئ سره | دپاسه دكمزوري | او پريكول ددۀ دتي نه |

مور د ډيرې كمزورئي په حالت كښې په خيټه كښې سنبال اوساتلو | اوبيا په دوه كاله كښې ئې دتي

فِيْ عَامَيْنِ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ؕ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿۱۴﴾

په دوه كاله كښې دي | چې شكر اوباسه | زما | او دمور اوپلار ستا | خاص ماته دي راتلل ستاسو

نه پرې كړو | نو بنده ته زما هم اودمورپلار هم شكر كوه | او ماته به (دحساب دپاره) راپيش كيږي

وَاِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰٓى اَنْ تُشْرِكَ بِيْ مَا

او كه زړو اولګوؤ دي دواړو په تا | په دي خبره چې تۀ شريك جوړ كړه | زما سره | هغه |

اوكه چرې دوئ دواړه درباندې زور واچوي | چې ته ماسره بغير د څه دليل نه څوك شريك اومنه

لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا

چې نۀ وي تالره | په هغې علم | پس خبره مۀ منه دهغوئ دواړو | او ملګرتيا كوه دهغوئ سره |

.....نو ته د هغوئ خبره مه منه | او په دنيا كښې هغوئ سره ښه سلوك كوه

فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا ۪ وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ

په دنيا كښې | نيكه | او پيروي كوه | دلارې | دهغه چا | چې رجوع ئې كړې ده | ماته |

اود هغه چا په لاره روان اوسيږه | چې ماته رجوع كوي .....

ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

بيا خاص ماته دي | راتلل ستاسو | پس زۀ به خبر كړم تاسو | په هغه عملونو | چې وئ تاسو |

بيا ستاسو دټولو ماته واپس راتلل دي | نو زۀ به ستاسو دعملونو نه تاسوخبر كړم

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾

چې كول به مو |

قوله تعالى:: وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ

دحضرت لقمان خپل ځوي ته نصيحت:- حضرت لقمان چه خپل ځوی ته كوم نصيحت اووصيت كړې وو د هغې بيان كيږي.دي لقمان بن عنقاء بن سدون وو.ددۀ دځوی نوم دسهيلي دبيان مطابق ثاران وو.الله تعالى ددۀ ذكرپه ښه والى سره كړې دي.اوفرمائيلې ئې دى چه ده ته حكمت وركړې شوې وو.ددۀ چه كوم بهترين وعظ خپل ځوی ته كړې وواودفائدې والا،ضروری،اوښه نصيحتونه ئې هغۀ ته كړې وودهغې ذكر كيږي.ظاهره ده چه انسان ته داولادنه زيات خوږ څيزبل څه نه وی،اوانسان خپل بهترين اوقيمتى څيزونه خپل اولادته وركول غواړي.

اول نصيحت. شرك مه كوه:: نودټولونه مخكښې ئې ورته دانصيحت اوكړوچه صرف دالله تعالى عبادت

Scanned with Ca

کوه،اودهغهٔ سره څوك شریك مه ګرځوه،یادساته چه ددې نه زیاته دبې حیایئ اوبد کاربل هیڅ نه دې.
د حضرت عبدالله نه په صحیح بخاری کښې روایت دې چه کله ایت﴿ اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ یَلْبِسُوْٓا اِیْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ الخ...نازل شونودرسول الله ﷺپه اصحابوباندې ډیره سخته راغله،اوهغوی حضوراکرم ﷺته عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ! مونږ کښې هغه څوك دې چاچه هیڅ ګناه هډوکړې نه وی؟ او په آیت مبارك کښې دی چې چا ایمان دظلم سره یوځائې نه کړو نو هم هغه په امن او په نیغه لار باندې.نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه دظلم نه مرادعامه ګناه نه ده.بلکه دظلم نه مراد هغه ظلم دې کوم چه حضرت لقمان خپل څوی ته نصیحت کولو کښې فرمائیلې ووچه بچیه دالله تعالی سره څوك شریك مه ګرځوه دادډیرلوې ظلم دې.

دویم وصیت مور پلار سره ښهٔ سلوك کوه: د دې اولنی نصیحت نه پس حضرت لقمان دویم وصیت کوی اوهغه هم ددرجې اوتاکیدپه لحاظ سره واقعی داسې دې چه ددې اولنی وصیت سره یوځائې کړې شی،یعنی دمورپلارسره سلوك اواحسان کول،دجناب باری تعالی فرمان دې ﴿ وَقَضٰی رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِیَّاهُ وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا ﴾.یعنی ستارب دافیصله کړې ده چه دهغهٔ نه علاوه تاسودبل چاعبادت مه کوئ اودمورپلارسره احسان اوښه سلوك کوئ.

په قران کریم کښې ددوې دواړوځیزونوبیان عموماً یوځائې دې.دلته هم دغه شان دې.(وهن)معنی مشقت،تکلیف،ضعف،وغیره ده.یوتکلیف خودحمل وی،کوم چه موربرداشت کوی،دحمل تکلیف اودردهرچاته معلوم دې.بیادۀوکالوپورې ورته پئ ورکوی،اودهغهٔ په پرورش کښې لګیاوی،چنانچه په بل ایت کښې دی﴿ وَالْوَالِدٰتُ یُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَیْنِ كَامِلَیْنِ﴾ الخ یعنی کوم خلق چه خپل اولادته پوره پوره پئ ورکول غواړی نودهغوی دپاره انتهائی میعاددادې چه میاندې دې کامل دوه کالوپورې دغه ماشومانوته خپل پئ ورکوی.

چونکه په یوبل ایت کښې فرمائیلی شوی دی﴿ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ﴾ یعنی دحمل میعاد او د پیوپرښودو ټول دریرش میاشتې دی.نوځکه حضرت ابن عباس ﷺاولویولویوامامانواستدلال کړې دې چه دحمل دکم نه کم موده شپږ میاشتې ده.دموردانکلیف داولادپه وړاندې ددې وجې نه ظاهرولې شی چه اولاددخپلې موردامهربانی اووینی اوشکرګزاری ،احسان اواطاعت کوی.په بل ایت کښې فرمان عالی شان دې ﴿ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیٰنِیْ صَغِیْرًا ﴾ مونږ نه دعا غواړه اووایه چه زمارښتونې پروردګاره !زمابه موربلارباندې داسې رحم اوکړه څنګه چه په مابه ماشوم توب کښې هغوی رحم کرم کولو،دلته ئې اوفرمائیل چه دخپل مورپلاراحسان منداوسه، واوره چه اخری راتګ خوهم زماطرف ته دې،کهٔ زماداخبره دې اومنله نوپوره جزابه درکړم.

نبی کریم ﷺ چې کله معاذ ؓ امیر جوړولو نو هم دغه حکم یې ورته کړې وو: په ابن ابی حاتم کښې دی چه کله حضرت معاذ ؓرسول الله ﷺخپل امیرجوړکړواووې لیږلونودوی چه هلته اورسیدل نودټولونه مخکښې ئې په ولاړه خطبه اولوسته،چه په هغې کښې دالله تعالی دحمدوثناء نه پس اوفرمائیل ،زهٔ تاسو ته درسول الله ﷺطرف نه رالیږلې شوې یم سره ددې پیغام چه تاسوټول دیوالله عبادت کوئ،اودهغهٔ سره څوك مه شریکوئ،زماخبرې منئ،زهٔ به ستاسوپه خیرخواهئ کښې هیڅ کوتاهی نه کومه.ټولولره واپس دالله تعالی طرف ته تګ دې.پس یاخوبه جنت مکان شی اویا جهنم به داوسیدوخائې وی.بیابه دهلته نه راوځئ اونه به مرګ راځی،بیافرمائی چه ستاسومورپلارتاسوته ددین اسلام نه علاوه دبل دین دقبلولودپاره اووائی اګرکه هغوی خپل ټول طاقت خرچ کړی خبردار، تاسودهغوی خبره مه منئ اوزماسره څوك مه شریکوئ،خوددې هم دامطلب نه دې چه دهغوی سره احسان اوښه سلوك کول پریږدئ،ستاسوپه ذمه دنیاوی حقونه دی هغه پوره کوئ.داسې خبرې دهغوی مه منئ بلکه دهغوی تابعداری کوئ چه زماطرف ته رجوع کوی.واورئ تاسوټول به یوه ورځ واپس زماپه وړاندې راټولونکی

ني په هغه ورځ به زهٔ تاسوته ستاسودتپولواعمالوخبردركړم.

د (فَلَا تُطِعْهُمَا) شانه نزول:: دطبرانی په کتاب العشرة کښې دی چه حضرت سعدبن مالك﵁فرمائی چه داایت زماپه باره کښې نازل شوې دې.مابه دخپل مورپلارډیرزیات خدمت کولو.اودهغوی پوره پوره اطاعت گزاروم.کله چه ماته الله تعالی داسلام طرف ته هدایت راکړو،نوزمامورزمانه ډیره زیاته خفه شوه اووې وئیل چه ځویه،دانوې دین تادکومې نه راوویستهٔ.واوره زهٔ تاته حکم درکوم چه ددې دین نه لاس اوباسه گنې زهٔ به نه خوراك کوم اونه څښاك،اوهم دغسې اوږې به مړه شم.ماالسلام پرینښوده، او زمامورخوراك څښاك بندکړو،اودځلورواړوطرفونوپه ماپسې اوازونه شوچه دې دخپلې مور قاتل دې. زما زړهٔ ډیرزیات تنګ شواوخپلې مورته مې باربارااووئیل،خوشامندئ مې اوکړې،پوهه مې کړه،چه د الله دپاره دخپل ضدنه واوړه،داخونامکنه ده چه زهٔ دارښتونې دین پریږدم.په دې بحث اوتکرارکښې زماپه موردرې ورځې لوږه تنده تیره شوه،اودهغې حالت ډیرزیات خراب شو.نوزهٔ هغې ته ورغلم اوماورته اووئیل چه زماموري ،زمابښې موري واوره!ته ماته دخپل ځان ته زیاته گرانه نې،خوماته دخپل دین نه زیاته گرانه نه نې،والله ستایونه که سل ساه گانې شی اوپه دې لوږه تنده کښې یوه په یوه تولې اوخې،نوهم به زه خپل رښتونې دین پرینږدمه،پرینږدمه،اوس زمامورمایوسه شوه اوخوراك څښاك کول ئې شروع کړل.

يٰبُنَيَّ	اِنَّهَآ	اِنْ تَكُ	مِثْقَالَ حَبَّةٍ	مِّنْ خَرْدَلٍ	
ا اے څویه	بیشکه چې یوځیز	که وی	په قدر ددانې	داوږی	
(لقمان اووئیل) که یو عمل د اوری د دانې هومره وړوکې وی	بیا هغه په یوکانړی کښې				
فَتَكُنْ	فِيْ صَخْرَةٍ	اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ	اَوْ فِي الْاَرْضِ	يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ	
پس وی هغه اپه یو گوټ کښې ایا وی په اسمانونو کښې	یا وی په زمکه کښې	رابه ولی	هغه الله		
دننه پټ پروت وی ایا په اسمانونو کښې ایا په زمکه کښې دننه پټ وی	نو الله ﷻ به ئې راحاضرکړی				
اِنَّ اللّٰهَ	لَطِيْفٌ	خَبِيْرٌ ﴿۱۶﴾	يٰبُنَيَّ	اَقِمِ الصَّلٰوةَ	وَاْمُرْ
بیشکه الله	باریك لیدونکې	او ښه خبردار دې	اے ځویه	قائم کړه مونځ	او حکم کوه
بیشکه الله ﷻ ډیر باریک بین او باخبره دې	ائې زما ځویه! مونځ کوه	اوخلقو ته			
بِالْمَعْرُوْفِ	وَانْهَ	عَنِ الْمُنْكَرِ	وَاصْبِرْ	عَلٰى مَآ	اَصَابَكَ ؕ
په نیکئ سره	او منع کوه	دبدئ نه	او صبر کوه	په هغه مصیبت	چې اورسی تاته
دنیکئ حکم ورکوه	اودبدئ نه خلق منع کوه	اوچې کوم مصیبت درباندې راشی انو په هغې صبر کوه			
اِنَّ ذٰلِكَ	مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾	وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ	لِلنَّاسِ	وَلَا تَمْشِ	
بیشکه دا کار	دلوړو کارونو نه دې	اومهٔ اړوه مخ خپل	دخلقو نه	او مهٔ گرزه	
بیشکه دا ډیر دهمت کار دې	او خلقو ته خپل مخ مه گونجې کوه	اوپه زمکه باندې په تکبر سره			
فِي الْاَرْضِ	مَرَحًا ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	كُلَّ مُخْتَالٍ	فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾
په زمکه کښې	په غرور سره	بیشکه الله	نه خوښوئ	هر غاوره	فخرکونکې
مه گرځه الله ﷻ غاوره فخر کونکی خلق نه خوښوی					

Scanned with Ca

وَاقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ط اِنَّ اَنْكَرَ
او میانه روی کوه	په تلو خپلو کښې	او ښکته ساته	آواز خپل	بیشکه	ډیر ناکاره	
او په خپل تګ کښې اعتدال ساته	او په خپل آواز کښې نرمی کوه	.....بیشکه په
الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ﴿۱۹﴾ ع
دآوازونونه	خامخا آواز	دخرونو دي	
آوازونو کښې خراب آواز دخر دي	

قوله تعالیٰ:: يٰبُنَيَّ اِنَّهَآ اِنْ تَكُ

دایمان نه ډک دریم نصیحت:-دحضرت لقمان دانورنصیحتونه دی.چونکه ټول دحکمتونونه ډک دی، نو قران ئې باربارربیانوی چه په دې عمل اوکړی.فرمائی چه بدی،خطا،ظلم،که داوری ددانې برابرهم وی،خواه که هرځومره پټ وی،دقیامت په ورځ به الله تعالی هغه پیش کړی.په میزان کښې به کیښودې شی،اوبدله ئې ورکړی شی.په نیک کاربانديې جزااوپه بدکاربانديې سزا.ځنګه چه فرمان دي﴿ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ ﴾ الخ...یعنی دقیامت په ورځ به دعدل تله کیښودې شی اوهریوته به بدله ورکوی . هیڅ ظلم به نه کیږی.په بل ایت کښې دی چه ذره برابرنیکی او ذره برابربدی به هریوکس اووینی.خواه که هغه نیکی یابدی چرته په کورکښې،مانړئ کښې،قلعه کښې،دکانړی په سوری کښې،داسمانونوپه ګوټونوکښې،دزمکې دلاندې،چرته چه هم وی دالله تعالی نه پټه نه ده.هغه به مخامخ پیش کړی،هغه ډیردباریك علم والا دي.دوړوکی نه وړوکي څیزهم په هغه باندې ظاهردي.په توره شپه کښې که یومیږې روان وی نودهغۀ دخپوداوازهم هغۀ ته پته لګی.بعضوداهم جائزاښې دي چه﴿انها﴾کښې ضمیردشان اودقصې دي.اوهم په دې وجه هغوی﴿مثقال﴾په لام باندې پیش وئیل جائزکړی دی.خواولنۍ خبره زیاته بهتره ده.بعضې وائی ﴿صخرة﴾نه مرادکانړې دي.چه داوُوه واړوزمکولاندې دي.ددې بعضې سندونه هم سدی ذکرکړی دی که صحیح ثابت شی.دبعضې صحابه کرامونه خودامروی دی.والله اعلم.ډیره ممکنه چه داهم دبنی اسرائیلونه نقل وی خودهغوی دکتابونوهیڅ خبره به مونږ نه ربښتیاګنړواونه ددروغو.په ظاهره معلومیږی چه دوری ددانې برابرهم کوم عمل سپك وی،اوداسې پټ وی چه په کانړی کښې دننه وی.ځنګه چه دمسنداحمدپه حدیث کښې دی رسول اللهﷺفرمائی چه په تاسوکښې که یوکس څه عمل اوکړی اودیوکانړی دسوری دننه وی اوهلته څوك وی هم نه،نه دروازه،نه کړکۍ ،نه څه سوري،نوهم به الله تعالی هغه په خلقوباندې ظاهرکړی.خواه که هرعمل وی نیك یابد.

څلورم نصیحت﴿اَقِمِ الصَّلٰوةَ﴾:بیافرمائی چه خویه دمونځ خیال ساته.ددې دفرائضو،ددې دواجباتو، ارکانو اوقاتووغیره پوره پوره حفاظت کوه.دخپل وس مطابق دالله تعالی دخبروتبلیغ په خپلو اوپردو کښې کوه. د ښو خبرو د کولو دپاره اودخرابوکارونونه بچ کیدودپاره هرچاته وایه.اوچونکه دنیکۍ حکم اودبدۍ نه بچ کول،هغه ځیز دي چه اکثرپه خلقوباندې بدلګی.دحق پرست انسان سره خلق دشمنی کوی.ددې وجې نه ئې ورسره اوفرمائیل چه دخلقودلاسه درته کوم تکلیف اومصیبت دراورسی په هغې صبرکوه،دالله تعالی په لاره کښې په حقیقت کښې بریښه توره اوسیره اودحق په لاره کښې دمصیبتونواوتکلیفونونه مۀ ویریږه. دا ډیر دروندادخوانانوکاردي.

پنځم ، شپږم ، اووم نصیحت ﴿وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ﴾:بیافرمائی چه خپل مخ دخلقونه مۀ ګرځوه اوهغوی سپك مه ګڼه.یاخپل ځان دهغوی نه اوچت ګڼلوسره تکبرمه کوه.بلکه نرمی کوه،خوش خلقۍ سره خلقوسره ملاویږه،په خندا کښې خبره کوه.په حدیث مبارك کښې دی چه که دخپل مسلمان رورسره تۀ په

Scanned with Ca

رونړتندی اوخنداسره ملاوشي نوداهم ستانیکی ده.پرتوګ اولنګ دګیتونه لاندې مه ساته. دا تکبر او غرور دي.تکبراو غرور دالله تعالی سخت ناخوښه دي.حضرت لقمان هم خپل خوی ته دتکبرنه کولو وصیت کوی.چه چرته داسي نه وی چه دالله بندګان ته سپك اوګڼې اومخ ترې اوګرخوې، او د مسکینانو سره په خبرو کولو او شرمیږې. مخ چه دې ګرځولې وی اوخبرې کوې داهم په تکبرکښې داخل دی.ډیرپه اوچت اوازسره اورعب داب په اندازکښې خبرې اترې کول منع دی.(صعر)یوه بیماری ده چه داوښانوپه ستونوباندې ظاهریږی یاپه سرکښې،چه دهغې په وجه دهغوی ستونه کاږه شی.پس متکبرکس ئې ددغې کوږ ستړ والا سړی سره مشابه کړې دي.عرب عموماً دتکبرپه موقعه باندې دصعراستعمال کوی،اوداستعمال دهغوی په شعرونوکښې هم موجوددي.

اتم نصیحت (وَلَا تُصَعِّرْ):په زمکه باندې په نازاوغرورسره مه ګرځئ،داچال دالله تعالی ناخوښه دي.الله تعالی هغه کسان نه خوښوی چه په ځان مئین،تکبرکونکی،سرکش، فخر او غرور کونکی وی.په بل ایت کښې دی﴿ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴾ یعنی په زمکه په غرورسره مه ګرځه،نه ته زمکه شلولې شې اونه داسمان اوچت والی ته رسیدې شې،ددې ایت تفسیرهم هغه ځائې کښې تیرشوې دي.

مړح او تکبر څه ته وائی؟:: دحضوراکرمﷺپه وړاندې یوځل د غرور ذکر راغې نوحضورﷺددې ډیرزیات مذمت اوفرمائیلو،وې فرمائیل چه په داسي خود پسندو او مغروره کسانوباندې الله تعالی غصه وی.په دې باندې یوصحابیؓاووئیل چه یارسول اللهﷺ،زه چه کپړې وینځم اوښه سپینې شی نوهغه زماډیرې خوښیږی اوزه هغې سره خوشحالیږم.هم دغه شان په ځپلۍ کښې مې ښه تسمه خوښیږی.دکوړې(چابك) ښائسته غلاف مې خوښیږی.نوحضورﷺته ورته اوفرمائیل چه داتکبرنه دي.تکبرهغۀ ته وائی چه تۀ حق سپك اوګڼې اوخلق سپك ګڼې،داروایت اوطریق ډیر اوږد مروی دي.اوپه دې کښې دحضرت ثابتؓ دانتقال اودوصیت ذکرهم دي.

لسم نصحیت(وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ):اوپه درمیانه اندازکښې تګ کوه،نه ډیره په مزه مزه اونه دنازا انداز سره، اونه ډیرزرزرپه اوږدواوږدوقدمونوسره.

یوولسم نصیحت (وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ):په خبروکښې لاپې مه کوه.اومه بې فائدې چغې سورې وهه، بد ترین اوازدخردې.چه په پوره زور بې فائدې چغې وهی.باوجوددې چه دالله تعالی په وړاندې خپله عاجزی ظاهروی.پس دې بدمثال ورکولوسره ئې پوهه کړوچه هسې چغې سورې وهل اوغصې کول حرام دی.رسول اللهﷺفرمائی چه دبدمثالونولاتق مونږ نه یو،خپل ورکړې شوې ځیزواپس اخستونکی داسې دې لکه سپې چه څه قې کړی اوواپس ئې اوخټی.په نسائی کښې ددې ایت په تفسیرکښې دی چه رسول اللهﷺاوفرمائیل چه کله دچرګ اذان واوریږ نودالله تعالی نه دهغۀ فضل غواړئ اوکله چه دخراوازواوریږ نودالله تعالی پناه غواړئ.ځکه چه هغه شیطان وینی،په یوروایت کښې دی چه دشپې. والله اعلم.

دحضرت لقمان نور اقوال زرین:- دحضرت لقمان دانصیحتونه ډیردنفع والا دی.ددې وجې نه قران کریم بیان فرمائیلی دی.ددوی نه نورډیرزیات حکیمانه خبرې اودوعظ ونصیحت کلمات مروی دی.دنمونې په طوراوددستورمطابق مونږ لږ شان دلته بیانوو.

① په مسندکښې دحضورﷺدژبې مبارکې نه دحضرت لقمان داقول روایت دي چه کله الله تعالی ته یوځیزحواله کړې شی نوالله تبارك وتعالی دهغې حفاظت کوی.

② په بل کښې ددوی نه داقول هم مروی دي چه بناوټ نه بچ شه دادتورې شپې په شان ویرونکې ځیز دي.اوپه ورځ کښې دمذمت اوبدئ والا ځیزدي.

Scanned with Ca

③ دوی خپل خوی ته داهم فرمائیلي وو ،چه حکمت سره مسکین خلق هم بادشاهان جوړشی.
④ددوی فرمان دي چه کله یومجلس ته اورسي نواول داسلامي طریقي مطابق سلام کوه،بیاپه مجلس کښي یوطرف ته کښینه،کۀ نورخلق خبرې نه کوی نوتۀ هم خاموش کښینه.اوکه خلق دالله تعالی ذکرکوی نوتۀ په هغوی کښي دتولونه زیاته حصه اخستلوکوشش کوه.اوکۀ ګپ شپ شروع کړی نوهغۀ مجلس پریږده.روایت دي چه دوی کله خپل خوی ته نصیحت کولودپاره کښیناستونوداوری نه ډکه یوه تهیلۍ نې دخان سره کیښوده.اودهرنصیحت نه پس یوه دانه به نې دهغې نه راویسته،تردې پورې چه تهیلۍ خالی شوه.نودوی اوفرمائیل چه خویه که دومره نصیحت ماغرته کړې وې نوهغه به هم توتې توتې شوې وو.چنانچه ددوی دخوی هم دغه شان حال شو.

د حبشیانو فضیلت: رسول الله ﷺفرمائی چه حبشیان ساتئ خکه چه په دوی کښي درې کسان دجنت سرداران دی.لقمان حکیم،نجاشی ؓ،اوبلال موذن ؓ.(دتواضع اوانکسارئ بیان)حضرت لقمان خپل خوی ته ددې نصیحت کړې وو،اوابن ابی الدنیاپه دې مسئله باندې یومستقل کتاب لیکلې دې.مونږ دهغې نه اهمې خبرې دلته ذکرکوو.

د تواضع اهمیت فضیلت: رسول الله ﷺفرمائی چه ببرسراودشلیدلو جامو والا چه دچالوې کورته رسیدې نه شی دالله تعالی په نزددهغوی دومره لویه مرتبه وی چه که هغوی په څه څیزباندې دالله تعالی قسم اوخوری نوالله تعالی به هغه فوری پوره کړی.په بل حدیث کښي دی.چه براء بن مالك هم ددې کسانونه دي .یوځل حضرت عمر ؓحضرت معاذ ؓدحضور ﷺدقبریه ژړا اولیدونوتپوس نې تړې اوکړو،نوجواب نې ورکړوچه ددې صاحب قبر ﷺنه یوحدیث مااوریدلی دې چه دهغې په یادولوسره ژاړم.مادحضور ﷺنه واوریدل،فرمائیل نې چه لږه شان ریاکاری هم شرك دي.الله تعالی هغه دوستان ساتی چه متقیان وی.کوم خلق چه په خلقوکښي پټ دی چه څه په شمارکښي نه دی که هغوی په یوه ډله کښي نه وی نوځوك دهغوی حال تپوس نه کوی که راشی نوځوك نې خیال نه ساتی خوددوی زړونه دهدایت ډیوې دی هغوی دهرې تیارې نه ځان بچ کوی اورنړاحاصلوی.حضور ﷺاکرم فرمائی چه دشلیدلو جاموخاوندان چه ذلیل شماریږی دالله تعالی په دربارکښي داسې مقرب دی چه که په الله تعالی باندې قسم اوخوری نوالله تعالی نې پوره کوی.الله تعالی دوی ته دنیانه ده ورکړې خوکۀ ددوی دژبې نه دتول جنت سوال هم اوځی نوالله تعالی نې پوره کوی.

حضور ﷺفرمائی چه زمانه امت کښي داسې خلق هم شته چه که په تاسوکښي دچادرته هغه خلق راشی اویودینار(اشرفی) یودرهم(روپۍ) بلکه یوه فلوس(پیسه)هم اوغواړی نه تاسوبه نې ورنکړئ،خودالله تعالی هغوی داسې خوښ دی چه که هغوی دالله تعالی نه تول جنتونه اوغواړی نوپروردګاربه هغوی ته ورکړی.او دنیا نه خوهغوی ته ورکوی اونه منع کوی.خکه چه داځه قابل قدرځیزنه دي.دوی په دوه خیرنوځادروکښي اوسیږی اوکه په یوه موقعه قسم اوخوری نوچه کوم قسم هغوی اخوړوالله تعالی هغه پوره کوی.

حضورنبی اکرم ﷺفرمائی چه په جنت کښي بادشاهان هغه خلق دی چه ګډوډاودبیرویختووالا دی. د خاورو اوشګونه ډك،که هغوی دمالدرانوګورونوته تلل اوغواړی نوهغوی ته اجازت نه ملاویږی.که هغوی په یواوچت کورکښي رشته اوغواړی نودهغۀ ځائي لورهغوی ته نه ملاویږی.ددې مسکینانوسره د انصاف والا سلوك نه کیږی.ددوی حاجتونه اوخواهشات اومرادونه دپوره کیدونه مخکښي په خپله مړۀ شی.او ارزوګاني نې په زړۀ کښي پټې پاتې شی.دقیامت په ورځ به ورته دومره نورملاوشی چه که هغه تقسیم کړې شی نودتولې دنیادپاره به کافی شی.دحضرت عبدالله بن مبارك په شعرونوکښي دی چه ډیرخلق کوم چه په دنیاکښي سپك اوذلیل ګنړلې شی صبادقیامت په ورځ به دتخت اوتاج والا،مال

Scanned with Ca

دولت والا،عزت اوجلال والا جوړشوی وی.په باغونونهرونو، او د نعمتونوراحتونوکښې به مشغول وی. رسول کریمﷺفرمائی چه دجناب باری تعالی ارشاددې،چه زمادټولونه زیات محبوب ولی هغه دې چه مومن وی،دکم مال والا،کم جانونووالا،مونځ ګذار،عبادت اواطاعت ګذار،په پټه اوپه ښکاره فرمانبرداره وی،په خلقوکښې دهغوی عزت اووقارنه وی،دهغوی طرف ته ګوتې نه اوچتیږی،اوهغوی په دې صابره وی،بیاحضورﷺخپل لاسونه مبارك اوخندل اووې فرمائیل چه ددې نه پس ورته مرګ راشی ،دهغهٔ میراث ډیرکم وی اوپه هغې ژړاکونکی ډیرکم وی.فرمائی چه دالله تعالی دټولونه زیات محبوب خلق غریبان دی.چه سره دخپله دینه ګرځی،کوم ځائې کښې ددین دکمزورې کیدوویره وی دهغه ځائې نه اوځی،دوی به دقیامت په ورځ دحضرت عیسیٰؑسره جمع وی.دحضرت فضیل بن عیاضmقول دې چه ماته داخبره رارسیدلې ده چه الله تعالی به دقیامت په ورځ خپل بنده ته اوفرمائی چه ایاماپه تاباندې انعام اواکرام نه ووکړې؟ایاماتاته درکړه نه وه کړې؟ایاماستابدن پټ نه کړو؟ ایا ما دانه وکړې؟هغه نه ووکړې؟ایاخلقوتاته عزت نه وودرکړې؟وغیره،نوکه کیدې شی ترکومې پورې چه د دې سوالونوموقعه کمه ملاوشی نو ښه ده.څه فائده ده چه خلق ئې خوبئ بیان کړی؟اوکه هغوی ئې مذمت هم اوکړی نوزمونږ به څه اوکړی؟زمونږ په نزدخوهغه سړې ډیرښه دې چاته چه خلق بد وائی، اوداالله تعالی په نزدښه وی.

د صحابه کرامو او علماء کرامو احوال::ابن محیرز خوبه دعاکوله چه ای الله،زماشهرت دې نه وی، خلیل بن احمد به په خپله دعاکښې ونیل چه ای الله،تهٔ ماته په خپلوسترګوکښې اوچتوالې راکړه او ما په خپل نظرکښې حقیرکړه.اودخلقوپه نظرکښې ماپه درمیانه درجه کښې اوساته. بیا" دشهرت" باب ترلو سره امام صاحب داحدیث بیان کړې دې چه دانسان دپاره دومره بدی کافی ده چه خلق دهغهٔ ددینداریٔ یادنیاداریٔ شهرت ورکړی،اودهغهٔ طرف ته ګوتې اوچتیږی،اشارې شروع شی،بس په دې کښې چه راشی نوډیرخلق هلاك شی،مګرهغه څوك چه الله تعالی ئې بچ کړی.واوریٔ الله ستاسوشکلونوته نه ګوری،بلکه هغه ستاسوعملونواوزړونوته ګوری.دحضرت حسن هم دغه روایت مرسلاً مروی دې کله چه هغوی داروایت بیان کړو ،نوچاورته اووئیل چه ستاطرف ته هم ګوتې اوچتیږی،دوی ورته اوفرمائیل چه تهٔ پوهه نه شوې،دګوتې اوچتیدونه مراددینی بدعت یادنیاوی فسق اوفجوردې.

دحضرت علیؓفرمان دې چه شهرت مهٔ حاصلویٔ،خپل ځانونه مهٔ اوچتویٔ،چه په خلقوکښې موخبرې شروع شی،علم حاصل کړیٔ لیکن پټ کړیٔ،چپ اوسیٔ،چه سلامت پاتې شیٔ.نیکان خوشحاله ساتیٔ اودبدانونه نفرت کویٔ،حضرت ابراهیم ادهم فرمائی چه دشهرت عوښتونکې دالله تعالی ولی نه وی،دحضرت ایوب فرمان دې چه څوك الله تعالی دوست جوړکړی نوهغه دخلقونه خپله درجه پټوی.

محمدبن علاء فرمائی چه دالله تعالی دوستان خلق خپل ځانونه نه ظاهروی.دسماك بن سلمه m قول دې چه دعام خلقوسره په ناسته پاسته اودوستانودزیاتوالی نه پرهیزکوه.حضرت ابان بن عثمان فرمائی چه کهٔ خپل دین سلامت ساتل غواړې نودخلقوسره کم جان پهچان ساته.دحضرت دابوالعالیه معمول ووچه کله دهغهٔ په مجلس کښې ددریونه زیات کسان جمع شوې دی نوهغهٔ به هغوی پرینبودل اوپه خپله به لاړو.حضرت طلحهؓکله خپل خواکښې دخلقوګنړه اولیده نووې فرمائیل چه دطمع مچان اوداوړپتنګان.دحضرت حنظله نه خلق ګیرچاپیره ولاړوونوحضرت عمرؓخپله کوړه راوچته کړه اووې فرمائیل چه تابع ذلت اومبتوع فتنه ده.دحضرت ابن مسعودؓسره چه خلق روان شونوهغوی اوفرمائیل چه کهٔ زماپښې خبرې په تاسوښکاره شی نوپه تاسوکښې به دوه کسانو هم ماپسې شاته تګ نه خوښولو.دحمادبن زیدؒوینادہ چه کله به مونږ په مجلس کښې دچاپه خواکښې تیریدواوزمونږ سره به ایوب وو،نوخلقوبه سلام کولو،اوهغهٔ به په سختیٔ سره جواب ورکولو،پس دایونعمت وو،دوی به اوږدقمیص اوغوستلو،په دې باندې ورته خلقواووئیل نودوی ورته جواب ورکړوچه په تیره شوې زمانه

Scanned with Ca

کښې دادشهرت څیزوو.خواوس ددې شهرت ددې په اوچتولوکښې دې.یوځل دوی خپلې توپئ په مسنون رنګ کښې رنګ کړې،څوورځې ئې په پسرکړې اوبیائې کوزې کړې اووې فرمائیل چه ما اولیدل چه عامو خلقو دانه پسرولی.دحضرت ابراهیم نحقی قول دې چه مه خوداسې لباس اچوه چه خلق درته ګوته نیسی، اونه دکمې درجې اغونده چه خلق درته په سپک نظرګوری.ثوریm فرمائی چه دعاموبزرګانوهم دغه معمول وو،چه نه خودوی ډیره قیمتی کپړه اغوسته،اونه بالکل بیکاره . د ابوقلابه خواکښې یوکس ډیرپه بهترین اوشهرت والا لباس کښې راغې نوهغوی ورته اوفرمائیل چه دې اوازکولووالا خرنه بچ شئ.حضرت حسن فرمائی چه بعضې خلقوپه زړونوکښې تکبرډک کړې دې، اوپه ظاهری لباس کښې تواضع اختیارکړې دې.ګویاځادریودروندستړک دې.دحضرت موسی ﷺ مقوله ده چه هغوی ﷺبنی اسرائیلوته اوفرمائیل چه زماپه ورانډې خوددرویشانوپه جامه کښې راغلی نې حالانکه ستاسوزړونه دلیوانوپه شان دی.واورئ جامې خواه که دبادشاه په شان واغوندئ خوزړه دالله تعالی دویرې نه نرم ساتئ(دخواخلاقوبیان)حضور ﷺدټولونه دخواخلاقووالا وو.دحضور ﷺنه سوال اوشو چه کوم یومومن بهتردې؟وې فرمائیل دټولونه خو اخلاقو والا. دحضور ﷺفرمان دې چه باوجود کم اعمالوصرف دخواخلاقوپه وجه انسان دلوئې نه لوئې درجې اودجنت اعلی منزلونه حاصلوی .او باوجود ډډیرونیکوصرف دبدو اخلاقوپه جه دجهنم ټولونه لاندې حصې ته لاړشی.فرمائی چه په خو اخلاقوکښې ددنیااواخرت ښیګړه ده.فرمائی چه انسان دخپلو خو اخلاقوپه وجه دشپې دقیام کونکو او ورځې روژې نیونکودرجې بیامومی.دحضوراکرم ﷺنه سوال اوشوچه جنت ته داخلیدودپاره عام وجه څه ده؟وې فرمائیل چه دالله تعالی ویره اوداخلاقوښه والې.تپوس اوشوچه عام طورسره کوم څیزجهنم ته بوتلونکې دې؟وې فرمائیل دوه سوری څیزونه،یعنی خوله،اوشرمګاه.یوځل دیوځواعرابیانوپه دې تپوس باندې چه انسان ته ټولونه ښه عطیه څه ملاوشوې ده؟وې فرمائیل چه څوک ټولونه خو اخلاقو والا وی.فرمائی چه څنګه مجاهدڅوک چه دالله تعالی په لاره کښې جهادکوی سحرمابنام ورته اجر ملاویږی هم دغه شان په ښواخلاقوباندې الله تعالی ثواب ورکوی.ارشاددې چه په تاسوکښې ماته زیات محبوب اودټولونه زیات نزدې هغه کس دې چه دټولونه ښواخلاقووالا وی.زماپه نزددټولونه زیات دبغض اونفرت قابل اودټولونه زیات زمانه لرې دجنت په منزل کښې هغه دې چه بداخلاقه او بدزبانه وی.فرمائی چه کامل ایماندارښواخلاقووالا دی.چه دهریوسره په محبت اوسلوک سره ملاویږی.ارشاددې چه دچاپیدائش اواخلاق ښه دی هغه به الله تعالی دجهنم خوراک نه جوړوی .ارشاد دې چه دوه خصلتونه په مومن کښې نه رایوځائې کیږی.بخل اوبدخلقی.فرمائی چه بدخلقئ نه زیاته بله بده ګناه نشته.ځکه چه بداخلاقه دیوې نه یوې لوئې ګناه کښې اخته کیږی.

د حضوراکرم ﷺارشاددې چه دالله تعالی په نزددبداخلاقئ نه بله لویه ګناه نشته.په ښواخلاقوسره ګناهونه معاف کیږی.بداخلاقی نیك عملونه بربادوی.څنګه چه سرکه شهد خرابوی. حضوراکرم ﷺ فرمائی چه غلام اخستلوسره غلامان نه زیاتیږی ښوپه خوش اخلاقئ سره ډیرخلق ستامنونکی اوتاسره محبت کونکی کیدې شی.دامام محمدبن سیرین قول دې چه ښه اخلاق ددین مرسته ده.

دتکبردمذمت بیان:-حضور ﷺفرمائی چه هغه به جنت ته نه ځی دچاپه زړه کښې داوری برابرتکبروی.هغه به پرمخ دوزخ ته ځی.ارشاددې چه انسان په خپل غروراوخودپسندئ کښې زیاتیږی اودالله تعالی په نزدپه جبارینوکښې اولیکلې شی .بیا د سرکشانوپه عذاب کښې ګرفتارشی.امام مالك بن دینارm فرمائی چه یوه ورځ حضرت سلیمان بن داؤد ﷺپه خپل تخت باندې ناست وو.ددوی په درباریانوکښې دغه وخت کښې دوه لکه انسانان اودوه لکه پیریان وو.دوی تراسمان پورې اورسولې شوتردې پورې چه دفرښتودتسبیح اوازونه ئې تر غوږو شو.اوزمکې پورې راوستې شو.تردې پورې چه دسمندرپه اوبو باندې ددوی خپې لمدې شوې.بیاهاتف غیبی ورته اوازاوکړوچه کۀ ددۀ په زړۀ کښې داوری ددانې

برابرهم تکبروي نوچه څومره اوچت تلې وو نودهغې نه زيات به خښ کړې شوې وو.حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه چې خپله خطبه کښې دانسان دپيدائش بيان فرمانيلوکښې اوفرمائيل چه دې د دوو کسانو د تشومتيازودخائې نه راوخی.په داسې شان کښې ئې بيان کړوچه اوريدونکوترې کرکه اوکړه.دامام شعبی قول دې چه چادوه کسان قتل کړل هغه ډيرلوې سرکش اوجباردې.بياهغوی دااية اولوستلو. ﴿اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْاَمْسِ ۚ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا فِي الْاَرْضِ﴾ ايانۀ ماقتلول غواړې؟څنګه چه پرون تايوکس قتل کړې وو ،ستاارادە په په دنياکښې دسرکش اوجباريه شان داوسيدو معلوميږی. د حضرت حسن ويناه ده چه هغه انسان کوم دورځې دوه ځل خپله ګندګی په خپلو لاسونو باندې وينځی هغه په څه وجه تکبرکوی.اودهغۀ وصف په خپل ځان کښې پيداکول غواړی چاچه اسمانونه پيداکړی دی.په خپله قبضه کښې ئې ساتلی دی.دضحاك بن سفيان نه ددنيامثال په هغه څيزسره ورکول نقل دی چه دانسان نه اوخی.امام محمدبن حسين بن علی رضي الله عنه فرمائی چه په کوم زړۀ کښې تکبرلوې والې وی،هم هغومره په هغۀ کښې عقل کميږی.يونس بن عبيد فرمائی چه دسجدې سره تکبراودتوحيدسره نفاق يوځائې کيدې نه شی.بنی اميه به په وهلووهلوسره خپل اولادته په تکبرسره دتلوچل بنودلو،حضرت عمربن عبدالعزيز ته يوځل ددوی دخلافت نه مخکښې تکبرسره په تلوچه حضرت طاوس اوليدونوپه ترخ کښې يوچوکه اوهلواووې فرمائيل چه داچال دهغۀ دې دچاخبته چه دګندنه ډکه ده.حضرت عمر ډير زيات شرمنده شواووې وئيل چه معافی غواړم مونږ ته په وهلووهلوسره دداسې تګ چل بنودلې شوې دې.

دفخراوتکبردمذمت بيان:- رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم په فخراوغرورسره خپلې جامې لاندې کړی اوخان پسې ئې راګاړی نوالله تعالی به دقيامت په ورځ هغۀ ته درحمت په نظرنه ګوری.فرمائی چه دهغۀ طرف ته به الله تعالی نظرنه اچوی،چه خپل لنګ بنکته ساتی.يوکس دوه بهترين څادرونه دخان نه تاوکړې وواوپه فخراوغرورسره روان وو،چه الله تعالی هغه په زمکه کښې خښ کړو،اوهغه به ترقيامته پورې خښيږی.

اَلَمْ تَرَوْا	اَنَّ اللّٰهَ	سَخَّرَ		
آيا نۀ وينئ تاسو | چی بيشکه الله | تابع کړی دی |				
| آيا تاسو دا نه وينئ چې الله ﷻ دآسمانونو				
لَكُمْ	مَّا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الْاَرْضِ
ستاسو دپاره | هغه څيزونه | چی په اسمانونو کښې دی | او هغه | چی په زمکه کښې دی |				
او دزمکې ټول څيزونه ستاسو په خدمت کښې لګيا کړی دی |				
وَاَسْبَغَ	عَلَيْكُمْ	نِعَمَهٗ	ظَاهِرَةً	وَّبَاطِنَةً ؕ وَمِنَ النَّاسِ
او پوره کړی دی الله | په تاسو باندې | نعمتونه خپل | بنکاره | او پټ | او ځينی دخلقو نه				
اوتاسو ته ئې خپل بنکاره او پټ نعمتونه درکړی دی | اوبعضې خلق داسې دی				
مَنْ	يُّجَادِلُ	فِي اللّٰهِ	بِغَيْرِ عِلْمٍ	وَّلَا هُدًى
هغه څوک دی | چی جګړی کوی | په باره دالله کښې | بې دعلم نه | او بې داهدايت نه |				
چې دالله ﷻ په باره کښې بغير دڅه واقفيت نه اوبغير د څه دليل نه اوبغير د يوروښانه				

Scanned with Ca

وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ

او بې د کتاب روښانه نه | او کله چې | اووئيلې شي | دوئ ته | چې پيروي اوکړئ | دهغه (کتاب) |
کتاب نه (تاسره) جګړې کوي |هرکله چې ورته اووئيلې شي چې د هغه حکمونو تابعداري کوئ

اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا

چې نازل کړې دي الله | نو وائي دوئ | بلکه | مونږه پيروي کوؤ | دهغه څيز | چې موندلي دي مونږه
چې الله ﷻ نازل کړې دي| نو داووائي چې نه مونږ خو پۀ هغه لار روان يو| چې مونږ پرې

عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ

په هغې باندې| پلاران زمونږه | ايا اګر که وي | شيطان | چې رابلي دوئ | عذاب |
خپل مورپلار روان موندلي دي | اګر که په دغه لار باندې ئې شيطان د دوزخ

السَّعِيْرِ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ

دوور ته | او هغه څوک | چې اوسپاري | ځان خپل | الله ته | او هغه ووؤ | نيک عمله انسان
انګار ته راولي| اوڅوک چې خپل مخ الله ﷻ ته اوسپاري |او په اخلاص سره نيکي کوي

فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ؕ وَاِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾

په حقيقت کښې هغه اونيوله | کړئ محکمه | او خاص الله ته | خاتمه ده | دکارونو |
نو هغه کړئ مضبوطه اونيوله| او اخر دټولو کارونو انجام الله ﷻ سره دي

وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ؕ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

اوهغه څوک | چې کفر ئې اوکړو | پس غمژن دنۀ کړې تا |کفر دهغه |خاص مونږ ته |واپس راتلل دي ددوئ
او چا چې کفر غوره کړو| نو ته دهغوئ دکفر په وجه غم مه کوه | مونږ ته به دوئ ټول واپس کيږي

فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ

پس خبر به کړو مونږ دوئ لره |په هغه عملونو | چې کړي دي دوئ | بيشکه الله| ښه عالم دي
نومونږ به ورته ټول کارونه په ګوته کړو| بيشکه الله ﷻ ته دزړونو راوزونه ښه

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۳﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ

په خبرو دسينو باندې | مونږ نفع ورکوؤ دوئ ته | لږه | بيا به خه راکاږو مونږ دوئ
معلوم دي | مونږ دوی ته لږ شان مهلت ورکوو | اوبيا به ئې يو سخت

اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۲۴﴾

عذاب سخت ته |
عذاب طرفته راکاږو|

قوله تعالى:: اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

دالله تعالى دخپلونعمتونواظهار:-الله تبارك وتعالى دخپلونعمتونواظهارفرمائى چه ګورئ داسمان ستورى ستاسودپاره په کارکښې مشغول دى.پرقيدوسره تاسوته رنړادرسوى. وريځې،بارانونه، رڼى، خشکى ټول

Scanned with Ca

ستاسودګټې څیزونه دی.په خپله اسمان ستاسودپاره محفوظ اومضبوط چت دې.دزمکې نهرونه، چینې، سیندونه، سمندر،اوني،پتې،میوې،ګلونه،داټول نعمتونه هم هغهٔ درکړی دی.بیادِدې ظاهری بې شماره نعمتونونه علاوه باطنی بې شمیره نعمتونه هم هغهٔ تاسوته درکړی دی.مثلاً د رسولانو درلیږل،دکتابونو نازلول،دشك اوشبه وغیره دزړونونه لرې کول وغیره،دومره ډیرلوې اودومره بې شمیره نعمتونه چه چادرکړی دی حق خوداووچه دهغهٔ په ذات ټول په ټوله ایمان راوړې وې، خو افسوس،چه ډیرخلق تراوسه پورې دالله تعالی په باره کښې په شك کښې پراتهٔ دی.اوصرف دجهالت او ضلالت نه بغیردځه سنداودلیل ټینګ ولاړدی.کله چه دوی ته اووئیلې شی چه دالله تعالی دنازل کړې شوې وحی اتباع کوئ نودِیرپه بې حیائي سره جواب ورکوی چه مونږ خوبه دخپلومشرانوپه نقش قدم باندې خو،اګرکه ددوی پلارنیکهٔ بې عقله اوبې لارې وو،دشیطان په جال کښې راګیرشوی دی. او د هغهٔ دوی دجهنم په لارروان کړی دی.داوودوی مشران اودادی ددوی خلاف.

قوله تعالی:: وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ اِلَى اللّٰهِ

دالله تعالی فرمانبرداره دالله په حفاظت کښې دې:- فرمائی چه څوك په خپل عمل کښې اخلاص پیدا کړی،چه دالله تعالی رښتونې فرمانبرداره جوړشی،اوشریعت تابعدارشی،دالله تعالی په حکمونو باندې عمل کوی،دالله تعالی دمنع کړې شوې کارونونه منع شی.هغهٔ مضبوط لیکل اخستې دی، ګویادالله تعالی وعده ئې اخستې ده،چه هغوی دعذابونونه خلاص دی.دکارونوانجام دالله تعالی په لاس کښې دې.اې خوږه پیغمبرﷺ!دکافرانوپه کفرباندې تهٔ خفه کیږه مهٔ،دالله تعالی تقدیرهم دغه شان جاری شوې دې،دټولوواپس تلل دالله تعالی طرف دی.هغهٔ وخت به داعمالوبدله ملاویږی،دهغهٔ الله تعالی نه هیڅ خبره پټه نه ده،په دنیاکښې دې مزې اوکړی،بیابه دوی دعذابونوبې وسی تیروی،چه ډیرزیات سخت اوډیرویرونکې دې،څنګه چه په بل ایت کښې دی.﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ۝ ﴾ په الله تعالی باندې دروغ ویونکی دفلاح نه محرومه پاتی شی.ددنیافائده خوجداخیزدې.خومونږ لره د راتلو نه پس دخپل کفربه سخته سزاتیروی.

وَلَئِنْ	سَاَلْتَهُمْ	مَّنْ خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	
او که چرې	تهٔ تپوس اوکړې ددوئ نه	چې چا پیدا کړی دی	اسمانونه	
اوکه ته ترې نه تپوس اوکړې چې دا اسمانونه او زمکه چا پیدا کړدی دی				
وَالْاَرْضَ	لَيَقُوْلُنَّ	اللّٰهُ ؕ	قُلِ	الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ
او زمکه	نو ضرور به اووائی	چې الله	ورته اووایه	چې ثنا الله لره ده
نو جواب کښې به اووائی چې الله ﷻ انو ته ورته اووایه چې ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی اخو په دوئ کښې				
بَلْ	اَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ۝	لِلّٰهِ	مَا
بلکه	اکثر ددوئ	نهٔ پوهیږی	الله لره دی	هغه څه
زیات خلق نه پوهیږی				په زمکه او آسمانونو کښې چه څه دی هرڅه دالله ﷻ ملکیت دې
فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ؕ			
چې په آسمانونو کښې دی	او په زمکه کښې دی			
اِنَّ اللّٰهَ	هُوَ الْغَنِيُّ	الْحَمِيْدُ۝		
بیشکه الله	محتاجه نهٔ دې	ستائیلې شوې دې		
بیشکه الله ﷻ بې نیازه ستائیلې شوې دې				

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

کله چه خالق الله تعالی دی نومعبودولې نه دي:- الله تعالی بیان فرمانی چه دامشرکان داخبره منی چه د ټولو خالق یواځې یوالله تعالی دي.بیاهم دنوروعبادت کوی.حالانکه دهغوی په باره کښې ورته په خپله پته ده چه دادالله تعالی پیداکړی شوی دی.اودهغۀ ماتحت دی.کۀ ددوی نه تپوس اوکړې شی چه خالق څوك دي؟نوددوی جواب بالکل ربښتونې وی چه الله تعالی! نوورته اووایه چه دالله تعالی شکردي چه تاسودومره اقرارخوکوئ.خبره داده چه اکثرمشرکان بې علمه دی.دزمکې اواسمان هرورڅکې اولوې څیزدالله تعالی پیداکړې شوې دي اوهم دهغۀ ملکیت دي.هغه دټولونه بې نیازه دي.اوټول دهغۀ محتاج دی.هم هغۀ قابل دحمددي،هم هغه خوبیانووالا دي.په پیداکولوکښې هم اوپه احکام مقررولو کښې هم هغه دتعریف قابل دي.

			وَلَوْ اَنَّ مَا	فِي الْاَرْضِ
			او که چری اهغه ټول څیزونه اچی په زمکه کښی دی	
			او که دزمکې په مخ باندې چې څومره ونې دی	
مِنْ شَجَرَةٍ	اَقْلَامٌ	وَّالْبَحْرُ	يَمُدُّهٗ	
د ونو نه	شی قلمونه	او دریاب شی (سیاهی)	چی امداد اوکړی دهغې سره	
قلمونه شی	او سمندر ئې سیاهی جوړه شی	اوددې د مدد دپاره		
مِنْۢ بَعْدِهٖ	سَبْعَةُ اَبْحُرٍ	مَّا نَفِدَتْ	كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ	
روستو دختمیدو دهغې نه	اوه دریابونه نور	نو ختمې به نۀ شی	کلمې دالله (دلیکلو نه)	
اووۀ سمندرونه نور راشی	..... نوبیا به هم دالله ﷻ صفات ختم نشی			
اِنَّ اللّٰهَ	عَزِيْزٌ	حَكِيْمٌ ﴿۲۷﴾	مَا خَلْقُكُمْ	وَلَا بَعْثُكُمْ
بیشکه الله	غالب دي	دحکمت خاوند دي	انۀ دی پیداکول ستاسو	اونۀ دوباره ژوندی کول ستاسو
بیشکه الله غالب او صاحب د حکمت دي	استاسوپه اول ځل پیداکول اوبیا دوباره ژوندی کول			
اِلَّا	كَنَفْسٍ	وَّاحِدَةٍ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	سَمِيْعٌۢ	بَصِيْرٌ ﴿۲۸﴾
مګر دی	پشان دنفس	یو	بیشکه الله	هر څه اوریدونکې	هر څه لیدونکې دي
بیخی دیو سړی د راپیداکولو پشان دی	الله ﷻ هره خبره اوری او هر عمل وینی ګوری				

قوله تعالی:: وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ

دالله تعالی دتعریف نه قلم اوقرطاس عاجزدی:- الله رب العالمین خپل عزت، کبریائی، بزرګی، جلالت، او شان بیان فرمائی،خپل پاك صفتونه،خپل اوچت نوم،اوبې شمیره کلمات بیان فرمائی،چه هغۀ نه څوك شمیرلې شی اونه دهغې احاطه کولې شی.اونه دهغې حقیقت څوك بیاموندې شی. سیدالبشر خاتم النبیین ﷺ به فرمائیل،"لااحصی ثناءعلیك نت کما اثنیت علی نفسك" اې الله!زۀ ستا دنعمتونو دومره شمیره نه شم کولې څومره چه تابیان فرمائیلی دی.پس دلته جناب باری تعالی ارشادفرمائی چه کۀ د ټولې زمکې ټولې اونې قلمونه جوړشی،اوټول سمندرونه سیاهی جوړه شی،اوددې سره اوۀه سمندرونه نور هم یوخائې کړې شی اودالله تعالی دعظمت اوصفات،جلالت اوبزرګئ،کلمات لیکل شروع

کړی،نوداټول قلمونه به اوسولیږی،ختم به شی،ټولې سیاهۍ به ټول په ټوله ختمې شی خوداالله تعالی وحده لاشریك له تعریفونه به ختم نه شی.دامة کنړۍ چه داوٗونه ژیات سمندرونه وی نوداالله تعالی پوره کلماتو لیکلودپاره به کافی شی. نه، داشمیره خودزیات والی دخودنې دپاره ده.اونه دې داهم اوګنړلې شی چه اوٗه سمندرونه موجوددی.اوهغوی دعالم نه راچاپیره دی.البته دبنی اسرائیلوداوٗوسمندرونوپه باره کښې داسې روایتونه دی لیکن نه خوهغې ته ربښتونې وئیلې کیدې شی اونه هغه دروغ ګنړلې کیدې شی.اوچه کوم مونږ بیان کړی دی،ددې تائیدپه دې ایت کښې دې .﴿ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا﴾ الخ... یعنی که سمندرسیاهی جوړه شی اوداالله تعالی کلمات لیکل شروع شی نودهغۀ ربانی کلماتو ختمیدونه مخکښې به سمندرختم شی.اګرکۀ هم دغه شان بل سمندرددۀ مددکښې راوړې.پس دلته تری هم مرادصرف یوهم دغه شان سمندرراوړل نه دی بلکه هم دهغې په شان یوبل اوبیاهم هغه شان یوبل،اوبیابل،غرض داچه کۀ هرځومره راوستې شی خوداالله تعالی خبرې ختمیدې نه شی.حسن بصری فرمانی چه که الله تعالی لیکل شروع کړی چه زماداامر،زماداامر،نوټول قلمونه به مات شی اودټولوسمندرونواوبۀ به ختمې شی.مشرکانوبه وئیل چه داکلام به اوس ختم شی،دکوم ردچه په دې ایت کښې دې،چه نه به درب تعالی عجائبات ختم شی او نۀ دهغۀ دحکمت انتهاء شته،اونه دهغۀ دصفت اوعلم اخره شته.دټولوبندګانوعلم دالله تعالی دعلم په مقابله کښې داسې دې چه دسمندرپه مقابله کښې یوه قطره.دالله تعالی خُبرې فناکیږی نۀ.اونۀ دهغې څوک ادراک کولې شی.مونږ چه هرځنګه دهغۀ تعریفونه اوکړوهغه دهغې نه سوادی.

د یهودیانو سوال در رسول کریم ﷺ جواب: دیهودوعالمانوپه مدینه منوره کښې رسول اللهﷺته وئیلې وو چه داتۀ چه په قران کښې لولې،﴿ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ یعنی تاسوته ډیرکم علم درکړې شوې دې.ددې نه څه مراددې،مونږ یاستاسوقوم.حضورﷺورته اوفرمائیل اوټول.هغوی ورته اووئیل چه بیابه تۀ دکلام الله ددې ایت څه کوې،چرته چه فرمان دې چه په توراة کښې دهرځیزبیان دې. حضورﷺ اوفرمائیل، واورې هغه تاسوسره چه هرځه دې هغه ټول دالله تعالی دکلمات په مقابله کښې ډیرکم دی.ستاسوچه په ځومره ګذاره کیده الله تعالی هم هغومره نازل کړل.په دې باندې دایت نازل شوخوددې نه معلومیږی چه دایت مدنی پکاردې،حالانکه مشهوره داده چه دایت مکی دې.والله اعلم.الله تعالی په هر څیز باندې غالب دې.تمام څیزونه دهغۀ په وړاندې پست اوعاجزه دی.څوک دهغۀ دارادې خلاف کولې نه شی.هغۀ په خپلوافعالو،اقوالو، شریعت، حکمت اوپه ټولوصفتونوکښې په ټولوباندې اعلی په ټولو باندې غالب اوقهاردې.

قوله تعالی:: مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ

دالله ﷻ د کمال قدرت بیان: بیافرمائی چه خلقولره پیداکول اوهغوی دمرګ نه پس بیا ژوندی کول ماته هم هغسې اسان دی څنګه چه یوکس.دهغۀ څه خبرې لره حکم فرمائیل کافی دی. د سترګې درپ هومره وخت نه لګی.نه ورته دوباره ویناوی اونۀ داسباب اومادې ضرورت.په یوفرمان سره به قیامت قائم شی.په یواوازسره به ټول راژوندی شی.الله تعالی دټولوخبرواوریدونکې دې.په ټولو کارونو خبردار دې. دیوکس خبرې اودهغۀ کارونه څنګه چه دهغۀ نه پټ نه دی هم دغسې دټول جهان هم دهغۀ نه پټ نه دی.

اَلَمْ تَرَ	اَنَّ اللّٰهَ	يُوْلِجُ	الَّيْلَ	فِي النَّهَارِ	وَيُوْلِجُ	النَّهَارَ
آیاتۀ ګورې نۀ	چې بیشکه الله	ننباسی	شپه	په ورځ کښې	ننباسی	ورځ
آیا تاته نه ده معلومه چې الله ﷻ شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې						

فِي الَّيْلِ	وَسَخَّرَ	الشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ ۙ	كُلٌّ	يَّجْرِيْ
په شپه کښې	او تابع کړی ئې دی	نمر	او سپوږمئ	دا ټول	روان دی
داخلوی	.....او نمر اوسپوږمئ ئې تابع کړی دی		دا ټول (مخلوقات) د یوې مقرر		
اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى	وَّاَنَّ اللّٰهَ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرٌ ۝	ذٰلِكَ
دنیټې مقرر پورې	او بیشکه الله	په هغه کارونو	چې کوئ ئې تاسو	خبر دی	دا کار
نیټې پورې روان لګیا دی	اوالله ﷻ ستاسو د کارونونه خبر دی				.....دا ځکه
بِاَنَّ اللّٰهَ	هُوَالْحَقُّ	وَاَنَّ	مَا	يَدْعُوْنَ	
په سبب ددې چې بیشکه الله چې دی	هم دې حق دی	او بیشکه	هغه	چې رابلی ئې دا خلق	
چې الله ﷻ په خپله هستئ کښې په خپله کامل دی	اودوئ چې دالله ﷻ نه سوا				
مِنْ دُوْنِهِ	الْبَاطِلُ ۙ	وَاَنَّ اللّٰهَ	هُوَالْعَلِيُّ	الْكَبِيْرُ ۝	
	بې دهغه نه	باطل دی	او بیشکه الله چې دی	هم دې اوچت دی	لوئې دی
دنور چا بلنه کوی	هغه ټول باطل دی	اوالله ﷻ دهر څیزنه اوچت او ډیر لوئې دی			

قوله تعالی:: اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ

داورځې اوشپه اوموسمی تغیرات :-شپې لره لږ شان کمول اودورځې زیاتولووالا،اوورځې لره لږ کمول اوشپې لره لږ زیاتولووالا الله تعالی دی.دژمې ورځې وړې اوشپې لوئې،اوګرمئ ورځې لوئې اوشپې وړې دهغۀ دقدرت ظهوردی.نمراوسپوږمئ دهغۀ دحکم پابنددی.کوم ځائې چه مقرردی هم په هغۀ خائې کښې چلیږی.ترقیامته پورې به برابر په خپل چال کښې روان وی.دخپل خائې نه اخوادیخواکیدی نه شی.

نمر چرته ځی؟::په صحیحین کښې دی چه حضور ﷺ دابوذر رضی الله عنه تپوس اوکړوچه تاته پته شته چه دا نمر کوم خواځی؟جواب ئې ورکړوچه الله تعالی اودهغۀ رسول ﷺ ته ښه پته ده.حضور ﷺ ورته اوفرمانیل چه دې لاړشی اودالله تعالی دعرش لاندې په سجده پریوځی.اودخپل رب نه اجازت غواړی.نزدې ده چه یوه ورځ به دۀ ته اووئیلې شی چه دچرته نه چه راغلې ئې،هم هلته واپس لاړشه.دابن عباس رضی الله عنه قول دی چه نمر په منزل د ارتې دی.دورځې په خپل دوران کښې جاری وی.چه پریوځی نودشپې دزمکې نه لاندې په ګردش کښې وی.تردې پورې چه د مشرق نه راوخیژی.هم دغسې سپوږمئ هم.الله تعالی ستاسو د عملونو نه خبردارد ی.ځنګه چه فرمان دې چه تاته پته نشته،چه زمکه اواسمان کښې چه څه دی دټولو علم الله تعالی سره دی.دټولوخالق اوعالم الله تعالی دی.ځنګه چه ارشاددی،الله تعالی اوړه اسمانونه پیدا کړل،اودهغې په شان زمکې ئې هم پیداکړې.الخ...دانشانات پروردګارعالم ددې وجې نه ظاهروی چه تاسودالله تعالی په حق وجودباندې ایمان راوړئ اودهغۀ نه علاوه ټول باطل اوګنړئ.هغۀ دټولونه بې نیازه اوبې پرواه دی.هرڅوک دهغۀ محتاج،اودهغۀ ددرفقیران دی.ټول دهغۀ مخلوق اودهغۀ غلامان دی.چاکښې یوې ذرې لره په حرکت کښې دراوستوقدرت نشته.ګوکۀ ټول مخلوق اراده اوکړی چه یو مچ پیداکړی ټول به عاجزشی اوهیڅ کله به دومره قدرت بیانه مومی.هغۀ دټولونه اوچت دی په چاچه هیڅ څیزنشته هغه دټولونه لوئې دی.دهغۀ په وړاندې دهیڅالوې والې نشته،هرڅیزدهغۀ په وړاندې حقیراوپست دی.

Scanned with Ca

اَلَمْ تَرَ	اَنَّ الْفُلْكَ	تَجْرِیْ	فِی الْبَحْرِ	بِنِعْمَتِ اللّٰهِ
آیا نه ګورې نه	چې بیشکه کشتئ	ګرزی	په دریاب کښې	په فضل دالله سره
آیا ته ګورې نه چې دالله ﷻ په فضل سره بیړئ په دریاب کښې روانې دی				
لِیُرِیَكُمْ	مِّنْ اٰیٰتِهٖ ؕ	اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ	لَاٰیٰتٍ	
دپاره ددې چې اوښائی تاسو ته	دنښو خپلو نه	بیشکه په دې کار کښې	ډیرې نښې دی	
چې تاسو ته د خپل قدرت نښې اوښائی	بیشکه چې په دې کښې دهر صبر کونکی			
لِّكُلِّ صَبَّارٍ	شَكُوْرٍ ۝	وَاِذَا	غَشِیَهُمْ	مَّوْجٌ
دپاره دهر صبر کونکی	شکر ایستونکی	او کله چې	لاندی کړی دوئ لره	یوه چیه
اوهر شکرګذار دپاره نښې دی	اوهر کله چې د(سمندرونو) چپې دخپرونو پشان			
كَالظُّلَلِ	دَعَوُا اللّٰهَ	مُخْلِصِیْنَ	لَهُ الدِّیْنَ ۚ	فَلَمَّا
پشان دچترئ	نورابلی الله	په دا حال کښې چې خالص کونکی دی	هغه لره	دین
خوهر کله چې په دوئ باندې راوخیژی	نو دوئ ډیر په اخلاص سره الله ﷻ رابلل شروع کړی			
نَجّٰىهُمْ	اِلَى الْبَرِّ	فَمِنْهُمْ	مُّقْتَصِدٌ ؕ	وَمَا یَجْحَدُ
بچ کړی دوئ لره	وچې ته	نوځینی ددوئ نه	صحیح پاتې شی په عقیده کښې	او انکار نه کوی
هغوئ د اوچې طرفته نجات مومی	نو ډیر لږ خلق په کښې په اعتدال پاتې کیږی			او زمونږ
بِاٰیٰتِنَاۤ	اِلَّا	كُلُّ خَتَّارٍ	كَفُوْرٍ ۝	
دایتونو (نښو) زمونږ نه	مګر	هر غدار	ناشکره	
دایتونو نه هغه خلق انکار کوی	اچې کوم بې لوظه ناشکره وی			

قوله تعالی:: اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ

چپې وهونکې سمندراوکشتئ:- دالله تعالی په حکم سره په سمندرونوکښې جهازونه چلیږی.که هغه په اوبوکښې دکشتئ دټینګولواودکشتئ داوبودکټ کولوطاقت نه وې ایښې،نوپه اوبوکښې به کشتئ څنګه چلیدې؟هغه تاسوته دخپل قدرت نشانات ښائی.په مصیبت کښې صبراوپه راحت کښې شکرکونکې ددې ډیرځه عبرتونه حاصلولې شی.کله چه داکافران په سمندرکښې موجونه راګیرکړی اوددوی کشتئ په خوزیدوشی اوموجونه لکه دغرونوپه شان داخواديخوانه دکشتوسره لوبې کول شروع کړی نودوی خپل کفرشرك هرځه هیرکړی.اودوی په ژړافریادکښې یورب ته اوازونه کوی.څنګه چه بل ځائې کښې دی﴿وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِی الْبَحْرِ﴾ الخ... دریاب کښې چه کله تاسوته ضرردرسی نودالله نه علاوه هرځه درنه ورك شی.په بل ایت کښې دی﴿ فَاِذَا رَكِبُوْا فِی الْفُلْكِ﴾ الخ...ددوی په دې منت زارئ کښې مونږ ته رحم راغې اودوی مود سمندربلې غارې ته پوریاسل نودیوځونه علاوه ټول کافرشی.مجاهدm هم دغه تفسیرکړې دې.څنګه چه فرمان دي ﴿ اِذَا هُمْ یُشْرِكُوْنَ ۝ ﴾ لفظی معنی داده چه په دوی کښې بعضې ددرمیانې درجې والله وی.ابن زیدﷺهم دغه وائی څنګه چه فرمان دې﴿ فمنهم ظالم لنفسه ﴾الخ..په دوی کښې بعضې ظالمان دی بعضې میانه رودی.الخ...اوداهم کیدې شی چه دادواړه تری مرادوی نومطلب

به نې داوی چه چاداسې حالت لیدلې وی اوداسې مصیبت نه راوتې وی نوهغۀ ته پکاردی چه په نیکوکښې پوره پوره کوشش کوی خودوی په مینځ کښې پاتې شی اوځه خوبیاکفرته لاړشی.ختاروانی غدارچه وعده ماتونکې وی.دخترمعنی پوره وعده ماتول دی.کفوروانی منکرته چه دنعمتونوناشکراومنکرشی.شکرخویوطرف ته هیرکړی اوذکرنې هم نه کوی.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا	
اے خلقو | خان اوساتئ دغضب	
ائې خلقو ! دخپل رب د	
رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِيْ وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ	
درب خپل نه | اواویریږئ | دهغه ورځې نه | چې بدله به نۀ ورکوی | یو پلار | دطرفه دځوی خپل نه	
عذاب نه اوویریږئ | اودهغې ورځې نه اویریږئ | چې یو پلار به دخپل ځوئې بدله نشی	
وَلَا مَوْلُوْدٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَّالِدِهٖ شَيْـًٔا ؕ	
اونۀ به یو ځوئې وی | چې هغه بدله ورکونکې وی | دطرفه دپلار خپل نه | هیڅ قدرله |	
....ورکولې | اونه به یو ځوئې د خپل پلار په څه کار راشی	
اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۪	
بیشکه وعده د الله | حقه ده | پس په دوکه کښې دوانۀ چوی تاسو لره | ژوند ددنیا |	
بیشکه دالله ﷻ وعده ریښتونې ده | نوددنیا ژوند مو په دهوکه کښې وانه چوی	
وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝۳۳ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ	
اونۀ ددوکه کړی تاسو | په معامله دالله کښې | دوکه باز(شیطان) | بیشکه الله چې دی | خاص هم دهغه سره دې	
اونه دهوکه باز شیطان مودالله ﷻ په حق کښې دهوکه کښې واچوی |بیشکه الله ﷻ ته د قیامت	
عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ؕ	
علم دقیامت دساعت | او نازلوی هغه | باران | او پیژنی هغه | هغه څه | چې په رحمونو کښې دی	
علم دې | او هم هغه باران وروی |او هم هغه د رحم دننه (ماشوم) پیژنی	
وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ؕ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ	
اونۀ پوهیږی | یو نفس | چې څه کار به کوی هغه | صباله | اونۀ پوهیږی | یونفس	
او هیچاته معلومه نه ده | چې صبا به څه کوی | او هیچا ته معلومه نه ده چې کوم ځائې	
بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ۝۳۴ ع	
چې په کومه زمکه | به مری هغه | بیشکه الله | په هر څه عالم دې | خبردار دې |	
به مړ کیږی | بیشکه الله ﷻ ته هرڅه معلوم دی | او په هرڅه پوهه دې	

قوله تعالیٰ:: يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا

دقیامت په ورځ دځانئ ځانئ عالم:- الله تعالی خلق دقیامت دورځې نه ویروی اودخپلې تقوی حکم ورکوی. ارشاددې چه په دغه ورځ به پلاردخپل بچی اوبچې به دخپل پلارپه څه کاررانشی.دیوبل فدیه به اونه

شی.ته په دنیاباندې باورمهٔ کوه اواخرت مهٔ هیروه.دشیطان په فریب کښې مه راخه،خکه چه صرف دپردې شاته خپل ښکارکوی.

قوله تعالی:: لَا يَجْزِيْ وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ

د عزیر ﷺ قصه:: په ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت عزیر ﷺ کله دخپل قوم تکلیف اولیدواوغم او خفګان ئې ډیرزیات شو،خوب تري اوتختیدو،نودخپل رب طرف ته تیټ شو ، فرمائی چه ماډیرزیات ژړا فریاداوکړو،اوښه مې اوژړل،مونځونه مې اوکړل روژې مې اونیوې، دعاګانې مې اوغوښتې،یوځل مې په ژړاژړاکښې فریادکولوچه زماپه وړاندې یوه فربښته راغله، ما د هغې نه تپوس اوکړوچه ایانیکان خلق به دبدانو شفاعت کوی؟یاپلاربه دبچوپه کارراشی؟هغې اوفرمائیل دقیامت ورځ دجهګړودفیصلې ورځ ده.په دغه ورځ به الله تعالی په خپله مخامخ وی.څوک به دهغهٔ داجازت نه بغیرشونډې هم اونه خوزولې شی.څوک به دبل په باره کښې نهٔ نیولې کیږی.نه پلاردځوی په بدله کښې ،اونه ځوی دپلارپه بدله کښې،نه ورورډورور په بدله کښې،اونه غلام دمالك په بدله کښې،نه به څوك دچاغم دردکمه ولې شی اونه به دچادچاسره شفقت اومحبت وی.یودبل طرف نه نه نیولې کیږی هرکس به په خپل غم کښې راګیروی.هرچاسره به خپل فکروی،هرکس به خپل غمونه ژاړی،هریوبه خپل بوج اوچتوی،دبل بوج نه.

إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ

دغیب دخزانو کنجیانې صرف دالله تعالی په لاس کښې دی:- دادغیب هغه کنجیانې دی دکوم علم چه د الله ﷻ نه علاوه بل هیچاته نشته.مګرددې نه پس چه الله تعالی دااوښائی.دقیامت دراتلوصحیح وخت، نه خوچانبی مرسل ته معلوم دی اونه څه مقربې فربښتې ته،ددې په وخت باندې صرف الله ﷻ خبردارډی. هم دغه شان باران به کله،چرته اوځومره کیږی ددې علم خوچاته نشته.اوهرکله چه هغه فربښتوته حکم اوشی کومې چه په دې مقرردی نوهله هغوی ته پته اولګی.اوهغه څوك چه الله تعالی ئې ورمعلوم کړی.هم دغه شان دامیدواري په خیټه کښې څه دی؟په دې هم صرف الله تعالی پوهیږی.اوکله چه دالله تعالی دطرف نه فربښتوته حکم اوشی کومې چه په دې کارمقرردی نوهله هغوی ته پته اولګی.چه نریه وی یاماده؟هلك به وی یاجینئ،نیك به وی یابد؟هم دغه شان هیچاته دامعلوم نه دی چه سبابه هغه څه کوی؟نه چاته داپته شته چه هغه به چرته مری؟په بل ایت کښې دی﴿ وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ﴾ دغیب کنجیانې دالله تعالی سره دی چه دهغې علم دهغهٔ نه علاوه بل چاته نشته. په بل حدیث کښې دی چه دغیب کنجیانې هم دغه پنځه څیزونه دی.دکوم بیان چه په ایت (**ان الله عنده**)الخ...کښې دې.مسنداحمدکښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل،پنځه خبرې دی چه په هغې دالله تعالی نه علاوه هیڅوك نه پوهیږی.بیاحضور ﷺ هم ددې ایت تلاوت اوفرمائیلو.دبخاری دحدیث الفاظ خودادی چه داپنځه دغیب کنجیانې دی.په کوم چه دالله تعالی نه علاوه نورهیڅوك نه پوهیږی.الخ...

پنځه څیزونه نبی ته هم نه دی معلوم:: په مسنداحمدکښې دحضور ﷺ دافرمان دې چه ماته د هر څیز کنجیانې راکړې شوې خوپنځه څیزونه،بیاهم دغه ایت حضور ﷺ تلاوت اوفرمائیلو،حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه حضور ﷺ زمونږ په مجلس کښې ناست وو،چه یوصاحب تشریف راوړو،تپوس ئې اوکړو یارسول الله ﷺ !ایمان څه څیزدی؟حضور ﷺ ورته اوفرمائیل،الله تعالی لره، فربښتو لره، کتابونو، رسولانو او دمړك نه پس ژوندې کیدولره منل.هغهٔ تپوس اوکړواسلام څه دی؟وې فرمائیل دیوالله تعالی عبادت کول،دهغهٔ سره څوك نه شریکول،مونځونه کول،زکواة ورکول،درمضان روژې نیول.هغهٔ تپوس اوکړواحسان څه دی؟وې فرمائیل ستادغه شان دالله تعالی عبادت کول چه ګویاتهٔ هغه وینې،اوکهٔ تهٔ ئې نه وینې نوهغه تاوینی.هغهٔ اووئیل حضوراکرم ﷺ قیامت به کله وی؟وې فرمائیل ددې علم نه ماته

شته اونه تاته،اوزۀ درته ددې نخښې ښائيم.کله چه وينځه خپل مالك اوزيږوی،اوکله چه خپې ابله اوبربنډخلق د خلقو سرداران جوړشی. دقيامت علم په هغه پنځوخبروکښې دې دکوم علم چه دالله تعالی نه علاوه بل هيچاته نشته. بياحضورﷺددې ايت تلاوت اوفرمائيلو،هغه کس واپس لاړو، حضورﷺ اوفرمائيل لاړشئ اوهغه واپس راولئ.خلقوورپسې منډې کړې خوهغه چرته هم په نظر رانغې.حضورﷺ اوفرمائيل دا جبرائيلؑووچه خلقوته ددين ددخودنې دپاره راغلې وو.(بخاری)

مونږ ددې حديث مطلب په شرح بخاری کښې ښه په تفصيل سره بيان کړې دې.په مسندکښې دی چه حضرت جبرائيلؑخپل لاسونه دحضورﷺپه کونډوباندې ايښودې وواوداسوالونه ئې کړې وو.چه اسلام څه دې؟حضورﷺورته اوفرمائيل چه تۀ خپل مخ دالله تعالی طرف ته متوجه کړې،اودالله تعالی دوحده لاشريك گواهی ورکړې.اودمحمددبنده اودرسول کيدوگواهی ورکړی.کله چه تادااوکړل نوتۀ مسلمان شوې،تپوس ئې اوکړوچه ښه ايمان دڅه نوم دې؟وې فرمائيل الله تعالی باندې،اخرت باندې،فرښتوباندې،کتابونوباندې،نبيانوباندې عقيده ساتل،مرګ اودمرګ نه پس ژوندمنل،جنت اودوزخ،حساب،ميزان،دتقديرخيراوشرباندې ايمان لرل،تپوس ئې اوکړۀ چه کله زۀ داسې اوکړم نوزۀ به مومن شم؟حضورﷺورته اوفرمائيل او،بيائې داحسان تپوس ترې اوکړو،اوجواب ئې بيامونده،کوم چه پورته ذکرشو.بيادقيامت تپوس ئې اوکړو،حضورﷺورته اوفرمائيل،سبحان اللهادادهغۀ پنځو ځيزونونه دې دکوم علم چه صرف الله تعالی دې.بياحضورﷺداايت تلاوت اوفرمائيلو. بيا د نشاناتو ذکر ئې هم اوکړو،چه خلق به لوې لوې کورونه جوړکړی.په يوصحيح سندسره په مسندکښې روايت دې چه دښوعامرقبيلې يوکس حضورﷺته راغې اووې وئيل چه زۀ راشم؟حضورﷺخپل نوکروراوليږوچه ورشه اوهغۀ ته ادب اوښائيه.دۀ ته داجازت غوښتوچل نه ورځی.دۀ ته اووايه چه اول سلام اوکړه ،بيا تپوس اوکړه چه زۀ راتلې شم؟هغۀ واوريدل اوهغه شان سلام ئې اوکړواواجازت ئې اوغوښتو.دې ورغې اووې وئيل چه تازمونږ دپاره څه راوړی دی؟حضورﷺورته اوفرمائيل چه ښيګړه اوصرف ښيګړه .واوره ،تۀ ديوالله عبادت کوه،لات اوعزی پريږده.په شپه ورځ کښې پنځه مونځونه کوه.په ټول کال کښې ديوې مياشت روژې نيسه.دخپل مالدارانونه زکواة وصولوه اوپه خپلو فقيرانو باندې ئې تقسيموه،هغۀ تپوس اوکړوچه يارسول اللهﷺاپه علم کښې څه داسې څه باقی شته چه تاسوته ئې پته نشته؟ حضورﷺ ورته اوفرمائيل چه اوداسې علم هم شته چه دهغې پته دالله تعالی نه علاوه بل هيچاته نشته. بيا حضورﷺ دا ايت تلاوت اوفرمائيلو،مجاهد فرمائی چه يوکلی وال راغې اودحضورﷺنه ئې تپوس اوکړوچه زمانښځه حامله ده.راته اووايه چه څه ماشوم به کيږی؟زمونږ په ښارکښې قحط دې راته اوفرمائيه چه باران به کله کيږی؟ددې خوماته پته ده چه زۀ کله پيداشوې يم،اوس تۀ دامعلوم کړه چه کله به مرم؟ددې په جواب کښې دااايت نازل شو،چه ماته ددې ځيزونومطلق علم نشته.مجاهد فرمائی چه دغه دغيب کنجيانې دی.چه دڅه په باره کښې دالله تعالی فرمان دې چه دغيب کنجيانې دالله تعالی سره دی.حضرت صديقهؓ فرمائی چه څوك تاته اووائی چه رسول اللهﷺدسبابه خبرو پوهيدلو نوپوهه شه چه هغه غټ دروغژن دې.الله تعالی فرمائی چه هيچاته پته نشته چه هغه به سباڅه کوی؟دقتاده قول دې چه ډيرځيزونه دی چه دهغې علم الله تعالی هيچاته نه دې ورکړې.نه نبی اکرمﷺاونه فرښتوته.دالله تعالی سره دقيامت علم دې.هيچاته پته نشته چه په کوم کال،په کومه مياشت،په کومه ورځ،ياپه کومه شپه کښې به هغه راځی.هم دغه شان دباران علم دهغۀ نه علاوه چاته نشته چه کله به راځی؟اوچاته پته نشته چه دحاملې ښځې په خيټه کښې به بچې نروی که ماده.سوربه وی که تور؟اوهيچاته پته نشته چه هغه به سبانيکی کوی يابدی؟مری به ياژوندې به وی؟ډيره ممکنه ده چه سبامرګ يافت راشی.نه چاته داخبرشته چه په کومه زمکه کښې به هغه خښيږی.اويابه په سمندرکښې اوبهيولې شی.يابه په ځنګل کښې مری؟ نرمې ياسختې زمکې ته به ځی؟په حديث مبارك

Scanned with Ca

کښې دی چه کله دچامرګ په بله زمکه کښې وی نودهغۀ هم هلته څه کارپیداشی اوهلته ورله مرګ راشی.په بل روایت کښې دی چه دې فرمائیلوسره حضورﷺدا ایت تلاوت اوفرمائیلو.داعشی همدان په شعرکښې دی په کوم کښې چه دامضمون په ډیرښکلې اندازکښې بیان شوې دې.په یوروایت کښې دی چه دقیامت په ورځ به زمکه الله تعالی ته اووائی چه دادی ستاامانتونه،چه ماته دې حواله کړې وو.په طبرانی وغیره کښې هم داحدیث شته دې.

دسوره لقمان تفسیرختم شو.(والحمدلله رب اللعالمین وحسبناالله ونعم الوکیل)

.....

تفسیرسوره الم سجده مکیه

دسوره سجدې فضیلت:- حضرت امام بخاری په کتاب ألجمعه کښې داحدیث بیان کړې دې چه رسول اللهﷺدجمعې په ورځ دسحرپه مونځ کښې (الم سجده)او(هَلْ اَتٰی عَلَی الْاِنْسَانِ) الخ...پورې اولوستلو.په مسنداحمدکښې دی چه حضورﷺبه همیشه داوده کیدونه مخکښې سورة(الم سجده)او(تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ) لوستله.

ایاتونه		سورة السجدة مكية وهي ثلاثون اٰية وثلاث ركوعات		ركوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۳۰		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		۳
		الٓمّٓ ۚ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ﴿۲﴾		
		ا ل م	نازليدل	ددې کتاب	چې نشته شك	په دې کښې	دطرفه درب العالمين نه دی
		الف لام میم ، دا نازل شوې کتاب دې	چې هیڅ شک په کښې نشته	درب العالمین دطرفنه راغلې دې			
		اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ					
		یا وائی دا خلق	چې دځانه ئې جوړ کړې دی دا قرآن	بلکه دا حق دې	دطرفه درب ستانه دې		
		آیا دا خلق وائی چې پیغمبر داکتاب دځانه جوړ کړې دې	نه ، بلکه داستا د رب د طرفه په حقه راغلې دې				
		لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ					
		دپاره ددې چې تۀ اویروې	هغه قوم	چې نۀ دې راغلې هغوئ ته	څوك یرونکې	مخکښې ستانه	
		چې ته پرې هغه قوم ویروې	چې ستا نه وړاندې ورته هیڅ ویرونکې نه دې راغلې				
		لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۳﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ					
		دپاره ددې چې هغوئ	نیغه لار بیا مومی	الله	هغه ذات دې	چې پیدا ئې کړل	اسمانونه
		کیدې شی چې دوئ په سمه روان شی	الله هغه ذات دې چې اسمانونه اوزمکه اوددې په مینځ کښې				
		وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ					
		او زمکه	او هغه	چې په منځ ددې دواړو کښې دی	په شپږو ورځو کښې	بیا	
		چې څه دی هغه ئې په شپږو ورځو کښې پیدا کړی دی	.....بیا په				

Scanned with Ca

اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ؕ	مَا لَكُمْ	مِّنْ دُوْنِهٖ	مِنْ وَّلِيٍّ	وَّلَا شَفِيْعٍ ؕ
برابر شو	په عرش باندې	نشته دې تاسو لره	بې دهغه نه	څوک دوست
اونۀ څوک سفارشی				
عرش باندې قائم شو	د هغه نه سوا	ستاسو دپاره نه څوک مددګار شته	اونه څوک سفارشی	

اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝	يُدَبِّرُ	الْاَمْرَ	مِنَ السَّمَآءِ	اِلَى الْاَرْضِ
آیا نو تاسو نصیحت نۀ قبلوئ	بندوبست کوی	دکار (دمعاملاتو)	دآسمان نه	دزمکې پورې
آیا تاسو ددې نه سبق نه اخلئ	هغه د آسمان نه ترزمکې پورې دهرکار بندوبست کوی			

ثُمَّ يَعْرُجُ	اِلَيْهِ	فِيْ يَوْمٍ	كَانَ مِقْدَارُهٗٓ	اَلْفَ سَنَةٍ	مِّمَّا
بیا خیژی	هغه ته	په یوه داسې ورځ کښې	چې دې مقدار دهغې	زر کاله	ادهغه مودې نه
بیا به هر کار هغه ته په داسې ورځ کښې پیش کیږی	چې دهغې مقدار به ستاسو د حساب				

تَعُدُّوْنَ ۝	ذٰلِكَ	عٰلِمُ	الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ	الْعَزِيْزُ
چې شمارویۀ ئې تاسو	هم دغه الله	عالم دې	په هر پټ	او ښکاره	غالب دې
مطابق پوره زر کاله وی	همدا الله ﷻ دې چې په پټو او په ښکاره ټولو څیزونو عالم دې	زبردست			

الرَّحِيْمُ ۝
مهربانه دې
او مهربان دې

قوله تعالی:: تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ

قران کریم صرف الله تعالی دطرف نه دی:- دسورتونوپه شروع کښې چه کوم مقطعات حروف دی دهغې پوره بحث مونږ دسوره بقرې دتفسیرپه شروع کښې کړې دی.دلته دوباره دبیانولوضرورت نشته.داکتاب قران حکیم بې شکه اوبې شبهې دالله رب العالمین دطرف نه نازل کړې شوې دې. دمشرکانوداقول غلط دې چه حضور ﷺ دخپله خانه جوړکړې دې.نه یقیناً دادالله تعالی دطرف نه دې.ځکه نازل شوچه حضوراکرم ﷺ دغه قوم ویرولوسره پوهه کړی دچاطرف ته چه دحضور ﷺ نه مخکښې څوک پیغمبرنه ووراغلې.چه دوی دحق اتباع اوکړی اوخلاصی بیامومی.

زمکه اواسمان په کوم ترتیب سره جوړ شو:- دټولوځیزونوخالق الله تعالی دې.هغۀ په شپږورځوشپوکښې زمکې اواسمانونه جوړکړل.بیائې په عرش باندې قرار بیامونده.ددې تفسیرتیرشوې دې.مالک اوخالق هم هغه دې.دهرځیزتکمیل دهغۀ په لاس کښې دې. دټولو کارونو تدبیرونه هغه کوی.په هرځیزدهغۀ غلبه ده.دهغۀ نه سوانه څوک دمخلوق والی شته اونه دهغۀ داجازت نه بغیرشفارس کونکې.ای هغه خلقو!چه دهغۀ نه علاوه دنوروعبادت کوئ،په نوروبهروسه کوئ،تاسو پوهیدې نه شئ چه ددومره قوتونووالله به ولې څوک خپل شریک کار جوړ کړی؟ هغۀ دبرابرئ نه،دوزیراومشیرنه،دشریک اوپیهم نه پاک منزه اومبرادې.دهغۀ نه سواهیڅوک معبود نشته. اونه دهغۀ نه علاوه څوک پالونکې شته.په نسائی کښې دی چه حضرت ابوهریره ؓ فرمائی چه حضور ﷺ زمالاس اونیولواووې فرمائیل،الله تعالی زمکې اواسمانونه اوځه چه ددې په مینځ کښې دی تمام څیزونه پیداکړل اوعرش باندې قیام اوفرمائیلو.خاوره دخالی په ورځ جوړه شوه،غرونه داتوارپه ورځ،اونې دپیرپه ورځ،بدی دنهې په ورځ،نوردچاشنبې په

Scanned with Ca

ورځ،خناوردزیارت په ورځ،آدم علیه السلام دجمعې په ورځ دمازیګرنه پس دورځې په اخری ګهړۍ کښې،دې دټولې زمکې دخاورې نه پیدا کړې شوچه په هغې کښې سره توره نښه بده هرقسمه وه.ددې په وجه دآدم علیه السلام اودلادبداوښه شو.امام بخاری دې ته معلل وئیلې دې.

فرمائی چه په بل سندسره روایت دې چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه داکعب احبارنه بیان کړې دې، اوحضراتو محدیثینوهم دامعلول ښودلې دې،والله اعلم.

قوله تعالی:: يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ

دهغۀ حکم داوووارواسمانونودپورته نازلیږی اوداووارورزمکونه لاندې پورې رسی.څنګه چه په بل ایت کښې دی.﴿ اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ؕ یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ ﴾ الله تعالی اوۀواسمانونه جوړکړل اودهغې په مثل اوۀزمکې،دهغۀ حکم ددې تولوپه مینځ کښې راکوزیږی.اعمال دخپل دیوان طرف ته اوچتولې شی،چه داسمانی دنیانه پورته دې.دزمکې نه اولنې اسمان دپینځوسووکالوپه فاصله دې،اوهم دومره ددې زړۀ دې.دومره ختل کوزیدل دالله تعالی په قدرت سره فرښته دسترګوپه رب کښې اوکړی. ځکه ئې اوفرمائیل چه یوه ورځ چه دهغې شمارستاسودشمیرې په اعتبارسره زرکاله ده.ددې کارونو تدبیر کونکې الله تعالې دې.هغۀ دخپلوبندګانوداعمالونه خبرداردې.تول وارۀ اعمال دهغۀ طرف ته اوخیژی.هغه غالب دې،چاچه هرڅیزخپل ماتحت کړې دې.تول بندګان اوتول ستونه دهغۀ په وړاندې ښکته شوی دی.هغۀ په خپلومومنانوبندګانوډیرزیات مهربانه دې.عزیزدې په خپل رحمت کښې اورحیم دې په خپل عزت کښې.

الَّذِیْۤ	اَحْسَنَ	كُلَّ شَیْءٍ	خَلَقَهٗ	
هغه ذات	چې ډیر ښه ئې جوړ کړې دې	هر څیز	چې جوړ کړې دې هغه	
هرڅه چې ئې جوړ کړی دی	هغه ډیر ښه (او محکم) ئې جوړ کړی دی			
وَبَدَاَ	خَلْقَ الْاِنْسَانِ	مِنْ طِیْنٍ ۚ﴿۷﴾	ثُمَّ جَعَلَ	نَسْلَهٗ
او شروع اوکړه هغه	دپیدائش دانسان	دختې نه	بیا ئې شروع کړل	پیدا کول دنسل دهغه
اود انسان پیدائش ئې د ښاورې نه شروع کړې دې	بیا د هغه نسل ئې د نچونې شوۀ			
مِنْ سُلٰلَةٍ	مِّنْ مَّآءٍ مَّهِیْنٍ ۚ﴿۸﴾	ثُمَّ سَوّٰىهُ	وَنَفَخَ	
دست (یعنې نطفې) نه	داوبو سپکونه	بیا ئې برابر کړو قالب دهغه	او پوک ئې کړو	
اوبې قدره اوبو نه اوچلولو	بیا ئې د هغه اندامونه روغ کړل	او په کښې ئې		
فِیْهِ	مِنْ رُّوْحِهٖ	وَجَعَلَ	لَكُمُ	السَّمْعَ	وَالْاَبْصَارَ
په هغې کښې	دروح خپل نه	او دې کړل	تاسو له	غوږونه	او سترګې
دخپل طرفنه روح پوک وهلو	اوتاسو ته ئې غوږونه ، سترګې او زړونه درکړل				
وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ	قَلِیْلًا مَّا	تَشْكُرُوْنَ ﴿۹﴾	وَقَالُوْۤا	ءَاِذَا
او زړونه	ډیر لږ دې	هغه شکر	چې تاسو ئې اوباسئ	اووائې دوئ	ایا هر کله چې
مګر تاسو ډیر لږ شکر ادا کوئی	.....او دوئ وائی چې هرکله مونږ په زمکه			

Scanned with Ca

ضَلَلْنَا	فِي الْأَرْضِ	ءَإِنَّا	لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۚ	بَلْ
ورك شو مونږ	په زمکه کښې	نو آیا مونږ به	په پیدا وښت نوی کښې (بیا راپیدا کیږو)	بلکه
کښې ختم شو	نو آیا مونږ به بیا دوباره راژوندی کولې شو	.....	خبره دا ده چې	
هُم	بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ	كَافِرُونَ ۝١٠	قُلْ	يَتَوَفَّاكُم
دوئ	د ملاقات درب خپل نه	انکار کونکی دی	ورته اووایه	چې په قبضه کښې به اخلی تاسو
دا خلق د خپل رب د ملاقات نه منکر دی	.....	(ائې پیغمبره) اووایه چې		
مَّلَكُ الْمَوْتِ	الَّذِي	وُكِّلَ	بِكُمْ	ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ
فربښته دمرګ	هغه فربښته	چې مقرر کړې شوی ده	په تاسو	بیا به رب خپل ته
ملک الموت چې په تاسو مقرر دې	ستاسو روحونه به قبض کوی	نو بیا به خپل رب ته واپس		
تُرْجَعُونَ ۝١١ ع				
واپس کړې شئ تاسو				
کولې شئ				

قوله تعالی:: الَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ

د الله تعالی هریو تخلیق شاهکار دی :- فرمائی چه الله تعالی سبحانه وتعالی هریوځیز په ښه طریقه بهترین توګه اوپه بهترین ترکیب سره ښائسته جوړ کړی دی. د هریوځیز پیدائش څومره ښکلې څنګه مستحکم او مضبوط دې. د آسمان اوزمکې پیدائش سره پخپله د انسان پیدائش باندې غورواوکړه. د ده شروع اوګوره د خاورې نه پیداکړو. ابوالبشرحضرت آدم ﷺ د خاورې نه پیداشو. بیائی د هغه نسل د نطفې نه روان کړو کوم چه د سړی د شاوښځې د سینې نه راوځی. بیائی هغه یعنی آدم ﷺ د خاورې پیداکولونه پس صحیح سالم کړو او په هغه کښې خپل روح پوک وهلو. تاسو ته نی غوږونه سترګې او عقل درکړو. افسوس دې چه تاسو بیا هم په شکر کولو کښې د کثرت نه کارنه اخلئ. د انجام په لحاظ سره نیک اوخوشحاله هغه سړې دې چه د الله تعالی ورکړې شوې طاقتونه هم د هغه په لارکښې خرچ کوی. جل شانه وعز اسمه.

قوله تعالی:: وَقَالُوٓاْ ءَإِذَا ضَلَلۡنَا فِي الۡأَرۡضِ

د مرګ فرشتې سره ملاقات:- د کافرانوعقیده بیانولې شی چه هغوی د مرګ نه پس د ژوند قایل نه دی اوهغوی دا محال ګڼړی اووائی چه کله زمونږ ذرې ذرې جدا شی اود خاورو سره خاورې شی نوبیابه هم مونږ د نوې سر نه جوړولې شو.؟افسوس داخلق د خپل ځان په شان الله تعالی باندې هم قیاس کوی او په خپل محدود قدرت باندې د الله تعالی لامحدود قدرت اندازه کوی. دا خو منی او پوهیږی چه الله تعالی په اول ځل پیداکړې یو نوحیرانتیاده چه په دویم ځل باندې راپیداکولو باندې دوی ولې هغه قادر نه منی؟ سره د دې چه د هغه خو صرف حکم چلیږی. کوم چه اووئیل چه اوشه هم هغه اوشی. ددې دپاره ئی اوفرمائیل چه د هغوی د خپل پروردګار د ملاقات نه انکار دې.

قوله تعالی:: مَّلَكُ الۡمَوۡتِ

د مرګ فرشته یوه ده که ډیرې دی؟:: د دې نه پس آیت کښې فرمائی چه ملك الموت کوم چه ستاسو په روح قبض کولوباندې مقرردې تاسو به مړه کړی. د دې آیت نه خو په ظاهره هم دا معلومیږی چه ملك

الموت د یوې فرښتې لقب دې. دحضرت براء ﷺ هغه حدیث د کوم بیان چه په سورت ابراهیم کښې تیرشوې دې. د دې نه هم اول دا خبره په پوهه کښې راځی اوپه بعضې آثارو کښې د هغه نوم حضرت عزرائیل ﷺ هم دې اوهم دا مشهوره ده. (۱) اوهغه سره کارکونکې نورې فرښتې هم شته چه د بدن نه روح راوباسی اود مرنې پورې رسیدو نه پس ملك الموت هغه اخلی. د هغه د پاره زمکه راغونډه کړې شوې ده اوداسې ده لکه چه زمونږ مخې ته یوه رکیبۍ (پلیټ) کیخودې شوی وی چه څه غواړو رااوچتوو. (۲) یومرسل حدیث (۳) هم د دې مضمون دې اود ابن عباس ﷺ مقوله هم ده.

دملك الموت د پنځه وخته د راتلو مطلب: ابن ابی حاتم کښې دی د یوانصاری سرته حضور ﷺ ملك الموت لیدلو سره اوفرمائیل ملك الموت زما صحابی سره آسانی اوکړه. هغه جواب ورکړو ای د الله تعالی نبی ﷺ تسکین اوخاطر اوساته اوزړه خوشحاله کړه والله زه پخپله ایمان والا سره ډیره نرمی کونکې یم. واوره یارسول الله ﷺ په الله تعالی قسم د ټولې دنیاهریوکچه اوپوخ کورکښې که هغه اوچه وی که په لمده په هره ورځ کښې زما پنځه ځل تک وی هریووړوکې او لوئی زه د هغوی نه هم ډیر پیژنم څومره چه هغه پخپله خپل ځان پیژنی. یارسول الله ﷺ یقین اوکړئی په الله تعالی قسم زه خو پخپله د یو مچ نه هم د روح قبض کولو قدرت نه لرم ترکومې چه ماته د الله تعالی حکم اونه شی. د حضرت جعفر ﷺ بیان دې چه د ملك الموت په ورځ کښې پنځه ځل د هریوسړی تپوس پښتنه کول هم دا دی چه هغه ﷺ پنځه وخته مونځونوکښې ګوری که چرې هغه د مونځونوحفاظت کونکې وی نوفرښتې هغه سره نیزدې اوسی اوشیطان د هغه نه لرې وی اود هغه په آخری وخت کښې فرښته هغه ته د لااله الاالله محمدرسول الله تلقین کوی. مجاهد رحمه الله فرمائی په هرکورهره ورځ ملك الموت دوه ځل راځی. کعب احبار رحمه الله دې سره داهم فرمائی چه هرې یوې دروازې سره اودریږی اوپه ورځ کښې اووه ځل په دې نظر اچوی چه په دې کښې څوك داسې خو نشته چه د هغه روح ویستلوحکم شوې وی. بیا د قیامت په ورځ د ټولو د الله تعالی طرف ته واپس کیدل دی. د قبرونونه په راوتلوسره د محشر میدان کښې دالله تعالی وړاندې حاضریدلو سره به د خپلو کړو میوه بیاموميږی.

وَلَوْ تَرٰٓى	اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ	نَاكِسُوْا		
او کاش چی اووینې تۀ	کله چی مجرمان خلق	ټیټ نیونکی وی		
اوکاش ! ته هغه مجرمان اووینې	چې هغوئ به خپل خدائې ته سرونه ټیټ			
رُءُوْسِهِمْ	عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ	رَبَّنَآ	اَبْصَرْنَا	وَسَمِعْنَا
سرونو خپلو لره	په دربار درب خپل کښې	اے ربه زمونږه	ښه اولیدل مونږه	ښه واوریدل مونږه
نیولی وی	(او وائی به) ائې زمونږه ربه اوس زمونږ سترګې او غوږونه پرانستې شول			
فَارْجِعْنَا	نَعْمَلْ	صَالِحًا	اِنَّا	مُوْقِنُوْنَ ﴿۱۲﴾
پس واپس اولیږه مونږه	چې عمل اوکړو مونږ	نیک	بیشکه مونږه	(اوس) یقین کونکی یو
نوواپس مو دنیا ته اولیږه	چې مونږ نیک عمل اوکړو	زمونږ اوس یقین اوشو		

(۱) الطبری: ۱۷۵/۲۰.
(۲) الطبری: ۱۷۵/۲۰.
(۳) الدرالمنثور: ۳۳۲/۵.

وَلَوْ شِئْنَا	لَاٰتَيْنَا	كُلَّ نَفْسٍ	هُدٰىهَا	وَلٰكِنْ
او که غوښتلې مونږه	نوخامخا به ورکړې وو مونږ	هر نفس ته	هدایت دهغه (داول نه)	لیکن
اوکه مونږ ته منظوروي	نو هر چا ته به مو خپله لاره ورکړې وه	خوزما دطرفنه داخبره		
حَقَّ الْقَوْلُ	مِنِّيْ	لَاَمْلَئَنَّ	جَهَنَّمَ	مِنَ الْجِنَّةِ	وَالنَّاسِ
ثابته شوه هغه خبره	دطرفه زمانه	چې خامخا به زهٔ ډکوم	دوزخ	دپیریانونه	او دانسانانونه
فیصله شوې ده	چې دوزخ به د (بدکارو) پیریانو او بنیادمو دواړو نه ډکوم				
اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳﴾	فَذُوْقُوْا	بِمَا	نَسِيْتُمْ	لِقَآءَ	يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ
دټولو نه	پس اوځکئ مزه	دهغه عمل	چې هیر کړو تاسو	ملاقات	ددې ورځې ستاسو
نو اوس (دخپل عمل) خوند اوځکئ	خکه چې ددې ورځې راتګ مو				
اِنَّا	نَسِيْنٰكُمْ	وَذُوْقُوْا	عَذَابَ الْخُلْدِ	بِمَا
نو بیشکه مونږ	هیر کړئ مونږه تاسو	اواوځکئ	عذاب دهمیشوالی	په سبب دهغې عمل
هیر کړې	اونن مونږ تاسو هیر کړئ	اود خپلو عملونو په بدل کښې دهمیشه عذاب		
كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾			
چې وئ تاسو	چې کوو به مو			
خوندونه اوځکئ				

قوله تعالی:: وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ

د قیامت په ورځ د ګناهګارانو خراب حالت:- الله تعالی فرمائی چه کله داګناهګاران خپل بیا راژوندی کیدل په خپلو سترګو اووینی اوپه ډیر ذلت او سپکاوی سره ملامته ستونه ښکته کړې د الله تعالی په وړاندې ولاړوی هغه وخت به وائی اې الله زمونږ سترګې اوغړیدې غوږونه مو کولاوشو اوس مونږ ستا د احکامو د هرقسم په ځائ راوړلوته تیاریو. په هغه ورځ به د ښه سوچ فکر او هوښیاران جوړشی. ټول رونتوب او کونړتوب به تري لاړشی. پخپله به خپل ځان ملامت کوی اودوزخ ته په تلوکښې به وائی که د غوږونواوسترګونه مو په دنیاکښې کاراخستې وې نونن به دوزخیان نه جوړیدو. اوس به الله تعالی ته بیا عرض کوی چه مونږ بیا دنیا ته اولیګه نو مونږ به نیك عمل کولوسره راشو. زمونږ اوس یقین پیداشو چه ستا ملاقات حق دې ستا کلام حق دې خوالله تعالی ته ښه معلوم دی که دا خلق بیا هم اولیګلې شی نوهم هغه حرکت به کوی بیابه د الله تعالی آیاتونه دروغ ګنړی بیا به انبیاء کرام علیهم السلام تنګوی. لکه څنګه چه پخپله د قرآن کریم په آیت ﴿ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (۱)

قوله تعالی:: وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا

دټولو مخلوقاتو په نه مؤمن کولو کښې دالله ﷻ حکمت دې:: د دې د پاره دلته فرمائ که مونږ غوښتل نو هر سړی ته به موهدایت ورکولو. لکه چه ارشاد دې که ستا رب غواړی نود زمکې یویوکس به مؤمن جوړ

---

(۱) ۶/الانعام:۲۷.

Scanned with Ca

شی. خود الله تعالی فیصله صادره شوې ده چه د انسان او پیریانونه به جهنم ډکولې شی. دا یوه اخری فیصله ده. د الله تعالی د ذات نه اود هغه د پوره پوره کلماتو سره عذابونونه مونږ دهغه پناه غواړو. د دوزخ والا ته به د رتنې په توګه وئیلې شی چه دنن ورځې د ملاقات نه مزه واخلئی اود دې عذابونه اوځکئی. دا محال ګنړلو سره تاسو هغه معامله اوکړه چه یوهیرونکی کوی اوس به مونږ هم تاسو سره هم دغه سلوک کوو. د الله تعالی ذات د هیرې او حقیقی نسیان نه پاک دې. داخو نې صرف دبدلې په توګه اوفرمائیل. یوبل آیت کښې دی ﴿وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ۝﴾ (۱) نن به مونږ تاسو هیرکړو لکه څنګه چه تاسو د دې ورځې ملاقات هیرکړې وو. د خپل کفر اوتکذیب په وجه اوس د همیشه عذاب مزې اوچتوئی. بل آیت کښې دی ﴿لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا۝﴾ (۲) هلته به یخوالې اواوبه نه وی بغیرد ګرمواوبو وینواو پیپونونه به بل هیڅ نه وی.

اِنَّمَا	يُؤْمِنُ	بِاٰيٰتِنَا	
بیشکه هم دا خبره ده	چې ایمان راوړی	په ایتونو زمونږ	
.....بیشکه زمونږ په ایتونو باندې هغه څوک ایمان			
الَّذِيْنَ	اِذَا	ذُكِّرُوْا	بِهَا
هغه کسان	کله چې	ورته نصیحت کیږی	په دې ایتونو سره
راوړی	چې وخت ورته یادولې شی	نو په سجده کښې پروځی	
وَّسَبَّحُوْا	بِحَمْدِ	رَبِّهِمْ	وَهُمْ
او تسبیح وائی	دثنا درب خپل سره	او هغوئ	تکبر نه کوی
او دخپل رب حمد او ثناء وائی	او هغوئ تکبر نه کوی	.....	د هغوئ ارځونه
جُنُوْبُهُمْ	عَنِ الْمَضَاجِعِ	يَدْعُوْنَ	رَبَّهُمْ
ډډې دهغوئ	دخایونو دخوب نه	رابلی هغوئ	رب خپل
دخوب دخایونونه په ډډه وی	اوخپل رب ته دویرې	اوامید دواړو تر مینځه دعا کوی	
وَمِمَّا	رَزَقْنٰهُمْ	يُنْفِقُوْنَ۝	فَلَا تَعْلَمُ
او دهغې رزق نه	چې ورکړې دې مونږ هغوئ ته	خرچ کوی	پس نه دې خبر
او څه چې مو هغوئ ته ورکړی دی دهغې نه خرچ کوی	نو هیچا ته معلومه نه ده	چې د هغه	
مَّآ	اُخْفِيَ	لَهُمْ	مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ
دهغه څیز نه	چې پټ ساتلې شوې دې	دپاره دهغوئ	دیخوالی دسترګو نه
دپاره د سترګو دیخوالی څومره ډیرنعمتونه تیار پراته دی	.....	دغه دهغوئ	
بِمَا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ۝	
دهغه عمل	چې وؤ هغوئ	چې کوؤ به ئې	
دخپلو عملونو بدله ده			

(۱) ۴۵/الجاثية: ۳۴.
(۲) ۷۸/النباء: ۲۴.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا

دَالله تعالی د رضا د لټون حکم:- د رښتونی ایماندار نښه داده چه هغه دَ زړه په غوږونو زمونږ آیاتونه اوری اوپه هغې باندې عمل کوی. په ژبه سره ئی هم حق منی اودَ زړه نه ئی هم حق ګڼړی. سجده کوی اودَ خپل رب سبحانه وتعالی تسبیح اوحمدوثنا بیانوی. اودَ حق دَتابعدارئی نه ځان نه پټوی. نه کبر اوغرور کوی. داخراب عادتونه دَ کافرانودی. لکه چه ارشاد دې ﴿ لَكُمْ ۖ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾(۱) یعنی زمادَعبادت نه کبرکونکی به ذلیل اوخوار دوزخ ته ځی.

قوله تعالی:: تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ

ددې رښتونی ایماندارانو یوخوبی داهم دې چه هغوی دَ شپې خپل خوبونه او بسترې پریږدی او مونځونه اداکوی. تهجد کوی(۲) دَ مابنام اوماسخوتن په مینځ کښې مونځ هم تړې بعضو مراد اخستې دې. ځوک وائی دې نه مراد دَ ماسخوتن دَ مونځ انتظاردې. (۳) یوبل قول دې چه دې نه دَ ماسخوتن اوسحر مونځ په جمع سره مراد دې. هغوی دَ الله تعالی نه دعاګانې کوی د هغه د عذابونونه دَ خلاصې د پاره اود هغه نعمتونه حاصلولو دَ پاره. دې سره صدقه اوخیرات هم کوی. دَ خپل حیثیت مطابق دَ الله تعالی په لارکښې ورکړه کوی. هغه نیکئی هم کوی دَ کوم تعلق چه دَ هغوی ذات سره وی اوهغه نیکئی هم دَ لاسه نه پریږدی دَ کوموتعلق چه نورو سره وی دوی. په دې ښکلونیکوکښې دَ ټولونه وړاندې شوی هغه خلق دی ځوک چه په درجوکښې هم دَ ټولونه وړاندې دی. یعنی د حضرت آدم ﷺ دَ اولاد سردار دَ فخر دوجهان حضرت محمد مصطفی ﷺ لکه څنګه چه دَ عبدالله بن رواحه ﷺ په شعرونوکښې دی:

وفینا رسول الله یتلوکتابه — اذاانشق معروف من الصبح ساطع
بیبت یجافی جنبه عن فراشه — اذااستثقلت بالمشرکین المضاجع

یعنی په مونږ کښې دَ الله تعالی رسول ﷺ موجود دې چه سحر کیدو سره دَالله تعالی دَ پاک کتاب تلاوت کوی. دشپې چه مشرکان په ژورخوب اوده وی دَ حضور ﷺ ارخ دَ هغوی دَ بسترې نه جدا وی(۴)

د دوؤ کسانو نه الله ﷻ زیات خوشحالیږی: مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی الله تعالی دَ دووکسانونه ډیر زیات خوشحاله وی یودَ هغه نه چه ښه په خوږ خوب باندې اوده وی خوناڅاپی دَ خپل رب نعمتونه او د هغه سزاګانې رایادې کړی او راپاسی خپل نرمه اوګرمه بستره پریږدی اوزما په وړاندې اودریږی مونځ شروع کړی. بل هغه کس چه دَ کافرانو سره په جنګ کښې دې او په جنګ کښې د مسلمانانو ډله کمزورې شی خودا سړې په دې پوهیږی چه په تیخته کښې دَ الله تعالی ناراضګی ده او په وړاندې کیدوکښې دَ الله تعالی رضا ده دَ میدان طرف ته وړاندې کیږی اوکافرانوسره جهادکوی تردې چه خپل سر دَ هغه په نوم باندې قربانی کړی. الله تعالی په فخر سره دا خپل فرښتوته ښائی اود هغوی په وړاندې د هغه د عمل تعریف کوی. (۵)

جنت ته رسولو والا عمل: مسنداحمدکښې دی چه حضرت معاذ بن جبل ﷺ فرمائی زه نبی کریم ﷺ سره په یو سفر کښې ووم دَ سحر په وخت کښې حضور ﷺ سره نیزدې روان ووم ما تپوس اوکړو اې دَ الله

---

۱) ۴۰/المؤمن:۶۰.
۲) الطبری:۲۰/۱۸۰.
۳) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة السجدة:۳۱۹۶وسنده حسن
۴) صحیح بخاری کتاب الادب باب هجاء المشرکین:۶۱۵۱.
۵) احمد:۱/۴۱۶، ابوداؤد کتاب الجهاد باب فی الرجل یشری نفسه:۲۵۳۶وسنده حسن، ابن حبان:۲۵۵۷، حاکم:۲/۱۱۲.

Scanned with Ca

تعالی پیغمبره ﷺ ماته یوداسې عمل اوښایه چه ما جنت ته اورسوی اود دوزخ نه مې جداکړی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه تاخودیر د کار سوال اوکړو خو چه الله تعالی په چاباندې آسان کړی نو هغه ته ډیر آسان دي. واوره ته د الله تعالی عبادت کوه هغه سره څوك شریك کوه مه د مونځونوپابندی کوه د رمضان روژې ساته د بیت الله حج کوه اوزکوة ورکوه. اوس زه تاته د نیکودروازې اوښایم. روژه ډال دي د ګناهونو صدقه ګناهونه معاف کوی اود انسان د نیمې شپې مونځ. بیا حضور ﷺ آیت ﴿ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ۝ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝﴾[1] تلاوت اوفرمائیلو. بیائی اوفرمائیل اوس زه تاته د دې عمل سر د دې ستنې اود دې قب اوښایم چه څومره اوچت دي. د دې ټولو کارونوسر خواسلام دې د دې ستن مونځ دې اود دې د قب اوچتوالې د الله تعالی د لارې جهاد دي. بیا فرمائی چه زه تاته د دې ټولوکارونو سردار اوښایم؟ بیائی خپله ژبه مبارکه اونیوله او وئی فرمائیل دا قابوساته. ماوئیل چه مونږ به په خپلو خبرو اترو باندې هم رانیولې کیږو؟ حضور ﷺ اوفرمائیل اې معاذ ﷺ افسوس تاته دا نه ده معلومه چه انسان پرمخې دوزخ ته غورزونکې څیز هم د دې ژبې دا غاړې دی.[2] هم دا حدیث په څو سندونوسره روایت دي. په یوکښې داهم دی چه آیت ﴿ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ۝ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝﴾[3] لوستلو سره حضوراکرم ﷺ اوفرمائیل د دې نه مراد د بنده د شپې مونځ کول دي. یوبل روایت کښې د حضور ﷺ دا فرمان نقل دي د انسان د نیمې شپې قیام کول بیاد حضور ﷺ هم د دې آیت تلاوت فرمائیل نقل دی. یوحدیث کښې دی چه کله د قیامت په ورځ د محشر په میدان کښې ټول وراندې روستو خلق راجمع کړي شی نو یوآواز کونکې فرښته به په اوچت آواز سره اعلان کوی کوم چه به ټول مخلوق اوری هغه به وائی چه نن به ټولونه معلومه شی چه د ټولونه زیات عزت دار د الله تعالی په نیز څوك دي؟ بیا به واپس آواز کوی چه تهجد کونکی خلق دي راپاسی اود دې آیت تلاوت به فرمائی نودا خلق به راپاسی او په شمیرکښې به ډیر کم وی. حضرت بلال ﷺ فرمائی چه کله آیت نازل شو مونږ په مجلس کښې ناست وو اوبعضې صحابه کرام رضی الله عنهم خو به د مانبام د مانځه نه واخله ترماسخوتن مانځه پورې په مونځونوکښې مشغول وو نوداآیت نازل شو. د دې حدیث هم دا یوسنددي. بیا فرمائی چه د هغوی د پاره په جنت کښې کوم کوم نعمتونه اوخوندونه پټ ساتلی د دې علم چاته هم نشته. دې خلقو به هم پټ عبادت کولو دغه شان مونږ هم پټ د دوی د سترګویخوالې اود دوی د زړه آرام تیارساتلې چه نه یوې سترګې لیدلې اونه نی په یوزړه کښې خیال تیرشوې. د بخاری شریف حدیث قدسی دې مادَ خپلو نیکانوبندیګانود پاره هغه رحمتونه اونعمتونه ایخودې دی چه نه د یوې سترګې په کتوکښې راغلی اونه د یوغوږ په اوریدو کښې اونه د یوزړه په سوچ کښې. دا حدیث بیانولو سره دحدیث راوی حضرت ابوهریره ﷺ اوفرمائیل د قرآن پاك دا آیت ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝﴾ [4] په دې روایت کښې د ﴿قرة﴾ په ځای ﴿قرات﴾ لوستل هم نقل دی.[5] یوبل روایت کښې د رسول الله ﷺ ارشاد دې د جنت نعمتونه چه چاته

---

[1] ۳۲/السجدة:۱۶-۱۷.

[2] احمد:۵/۲۳۱، ترمذی کتاب الایمان باب ماجاء فی حرمة الصلاة:۲۶۱۶وهوحسن،ابن ماجه:۳۹۷۳، السنن الکبری:۱۱۳۹۲.

[3] ۳۲/السجدة:۱۶-۱۷.

[4] ۲۳/السجدة: ۱۷.

[5] صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة سجدة:۴۷۷۹، باب قوله ﴿فلاتعلم نفس ماأخفی.....﴾ صحیح مسلم:۲۸۲۴.

Scanned with Ca

ملاوشو هغه به کله هم بې نعمته نه وی. د هغه کېږې به زړېږی نه د هغه ځوانی به ختمیږی نه د هغه د پاره په جنت کښې هغه څه دی چه نه یوې سترګې لیدلی نه یوغوږ اوریدلی اونه د یوانسان په زړه کښې د هغې وهم اوګمان شوې دې. (۱)

په یوحدیث کښې رسول الله ﷺ د جنت صفت بیانولوسره په آخره کښې دافرمائیلې دی اوبیانې دا آیت ﴿ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ۝ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝ ﴾ (۲) تلاوت کړو. (۳) حدیث قدسی کښې دی مادَ خپلو بندیګانودَ پاره داسې نعمتونه تیارکړی دی چه نه سترګولیدلې دی نه غوږونو اوریدلی دی بلکه په اندازه اوخیال کښې هم نه شی راتلې.

د ادنې جنتی جنت: صحیح مسلم کښې نبی کریم ﷺ فرمائی حضرت موسی علیه السلام الله رب العزت ته عرض اوکړو یاالله تعالی دَ ادنی جنتی درجه څه ده؟ جواب ملاوشو چه ادنی جنتی هغه سړې دې چه د ټولوجنتیانوجنت ته دَ تلونه پس به راځی هغه ته به وئیلې شی جنت ته داخل شه هغه به وائی یاالله چرته لاړشم؟ هریوپه خپل ځائ باندې قبضه کړې ده اوخپل څیزونه ئی سنبال کړی دی. هغه ته به وئیلې شی چه آیا ته په دې خوشحاله ئی چه تاته دومره ملاوشی لکه چه په دنیاکښې یولوئ بادشاه سره وو؟ هغه به وائی پروردګار زه په دې باندې خوشحاله یم. الله تعالی به اوفرمائیل ئی ستادَ پاره دومره دی، دومره نور دومره نور دومره نور اوپنځه چنده. دې به وائی بس بس اې زما ربه زه راضی یم. الله تعالی به فرمائی دا ټول مونږ تاله درکړه اودَ دې په لس چنده نور هم درکړل اونور هم چه ستا زړه څه غواړی او په کوم سره ستا سترګې یخې شی دې به وائي چه یاالله زما خو وخکی کولاوشو زړه مې خوشحاله شو. حضرت موسی علیه السلام اووئیل د اوچتې درجې د جنتی کیفیت به څنګه وی؟ وئی فرمائیل داهغه خلق دی دَ چاخاطر مدارت اوعزت چه ما په خپل لاس سره کړې اوپه دې باندې خپل مهرلګولې دې بیا نه هغه دَ چا په کتوکښې راغلی نه په اوریدوکښې اونه دَ چا په خیال کښې. د دې مصداق دَ الله تعالی دَ کتاب آیت ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝ ﴾ (۴) دې (۵)

په جنت کښې حورې او شغل: حضرت عامر بن عبدالواحد رحمه الله فرمائی ماته دا خبررسیدلی دې چه یو جنتی به خپلې حورې سره په مینه اومحبت کښې اویاکالوپورې مشغول وی دَ بل څه څیز طرف ته به د هغه هډو خیال نه وی. بیا به بل طرف ته خیال اوکړی نوګوری به چه دَ اولې نه به نوره ډیره ښائسته اونورانی شکل والا حوره وی هغه به دې خپل طرف ته په خیال کیدو باندې خوشحاله شی اووائی به چه اوس به زما مراد هم پوره شی. دې به وائی ته څوک ئی؟ هغه به جواب ورکړی زه هم ستا زیاتی یم. اوس به دې ټول هغې طرف ته متوجه شی بیا به اویاکالوپورې بل طرف ته هډو ګوری نه. دومره موده پس چه کله بیا دَ ده خیال بل طرف ته شی نوګوری به چه د دې نه به هم یوه بله ښائسته حوره وی هغه به وائی چه اوس وخت راغلو چه په تاکښې به زماهم حصه وی. دې به تپوس کوی ته څوک ئی؟ هغه به جواب ورکوی چه زه دَ هغوی نه یم دَ چاباره کښې چه الله رب العزت فرمائیلې وو چه څوک ئی هم نه پیژنی دَ هغوی دَ پاره اودَ هغوی دَ سترګو یخولودَ پاره الله تعالی کوم کوم څیزونه پټ ساتلی.

---

۱) صحیح مسلم کتاب الجنة باب فی دوام نعیم اهل الجنة واهلها.....: ۲۸۳٦، احمد:۲/٤۱٦.(مسلم)

۲) ۳۲/السجدة:۱٦-۱۷.

۳) صحیح مسلم کتاب الجنة باب صفة الجنة:۲۸۲۵.

٤) ۲۳/السجدة: ۱۷.

۵) صحیح مسلم کتاب الایمان باب ادنی اهل الجنة منزلا فیها:۱۸۹، ترمذی:۳۱۹۸، ابن حبان:٦۲۱٦.

په جنت کښې جنتيانو ته تحفې: حضرت سعيدبن جبير رحمه الله فرمائی فرښتې به جنتيانوله د دنياد اندازې نه په ورځ کښې درې درې ځل د جنت عدن نه د الله تعالی تحفې راوړی راخی کومې چه د هغوی په جنت کښې نه وی. هم د دې بيان په دې آيت کښې دې. هغه فرښتې به دوی ته وانی چه الله تعالی تاسونه خوشحاله دې.

د جنت درجات: د حضرت ابواليمان هوزنی رحمه الله يادً يو بل بزرګ نه روايت دې د جنت سل درجې دی اوله درجه د سپينو زرو ده اود دې زمکه هم د سپينوزرو ده د دې محلونه هم د سپينوزرودی د دې خاوره مشك دی. دويمه درجه د سرو زرو ده زمکه ئی هم د سرو کورونه هم د سرو لوښی هم د سرو زرو اوخاوره د مشکوده. دريمه مرغلرې، زمکه ئی هم د مرغلرو کورنه هم لوښی هم اوخاوره د مشکو اوباقی درې کم سل خوهغه دی کومې چه نه سترګوليدلی نه غوږونو اوريدلی اونه د يوانسان په زړه کښې د هغې څه خيال تيرشوې. بياهم د دې آيت تلاوت اوفرمائيلو. ابن جريرکښې دی جضور ﷺ د روح الامين عليه السلام نه روايت کوی چه د انسان نيکئی اوبدئی به راوړلې شی بعضې به د بعضو نه کمې کړې شی بيا که يوه نيکی هم باقی پاتې شوه نوالله تعالی به هغه زياته کړی اوپه جنت کښې به وسعت ورکړی (۱) د راوی يزداد نه تپوس اوکړې چه بدئی چرته لاړې؟ نوهغه د دې آيت تلاوت اوکړو ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّئَاتِهِمْ فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ﴾ (۲)

يعنی داهغه خلق دی د چا نيك اعمال چه مونږ قبول کړی دی اود هغوی بدئی مونږ معاف کړې. راوی اووئيل چه بيا د دې آيت څه معنی ده. ﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ ۚ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ (۳) فرمانی چه کله بنده يوه نيکی د خلقو نه پټه کوی نوالله تعالی هم د قيامت په ورځ د هغه د آرام څيزونه چه د هغه د پاره ئی پټ ساتلې ووورښه کړی.

أَفَمَن	كَانَ	مُؤْمِنًا	كَمَن	
ايا پس هغه څوك چې وی		مومن	کيدې شی پشان دهغه چا	
ايا څوک چې مومن وی			هغه د هغه چا پشان کيدې شی	
كَانَ	فَاسِقًا ۚ	لَّا يَسْتَوُونَ ﴿١٨﴾	أَمَّا الَّذِينَ	آمَنُوا
چې وی	فاسق	نۀ شی برابريدې دا دواړوه	هر چې دی	هغه کسان
کوم چې فاسق وی		دوئ هيڅ کله نشی برابريدې		چا چې ايمان راوړو او
وَعَمِلُوا	الصَّالِحَاتِ	فَلَهُمْ	جَنَّاتُ	الْمَأْوَىٰ
او کړی ئی دی عملونه		نېك	پس وی هغوئ لره	جنتونه
نيک عملونه ئې اوکړل			د هغوئ داوسيدو دپاره به باغونه وی	
بِمَا	كَانُوا	يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾	وَأَمَّا الَّذِينَ	
په سبب دهغې عملونو		چې ووُ هغوئ	چې کول به ئې	او هر چې دی
دهغوئ دهغه عملونو په بدله کښې کوم چه هغوی کول				اوکومو کسانو چې نافرمانی کړی

(۱) الطبری: ۱۸۵/۲۰، .
(۲) ۴۶/الاحقاف: ۱۶.
(۳) ۳۲/السجدة: ۱۷.

Scanned with Ca

فَسَقُوْا	فَمَاْوٰىهُمُ	النَّارُ ؕ	كُلَّمَآ	اَرَادُوْٓا
چې فسق نې اختيار کړې دې	پس خائ داوسيدو دهغوئ	ووردې اهرکله چې	ارادہ اوکړې هغوئ	
وې	نود هغوئ د استوګنې ځائې اوردې	.....	کله چې ترې د وتلو ارادہ اوکړې	
اَنْ يَّخْرُجُوْا	مِنْهَآ	اُعِيْدُوْا	فِيْهَا	وَقِيْلَ
چې اوځی	ادهغې نه	نو واپس به ورغورزولې شی	په هغې کښې	اووئيلې کيږی به
نوهغوی به په کښې واپس اوغورزولې شی	.....	او ورته به اووئيلې شی		
لَهُمْ	ذُوْقُوْا	عَذَابَ النَّارِ	الَّذِيْ	كُنْتُمْ
هغوئ ته	اوځکئ	عذاب دوور	هغه وور	چې وئ تاسو
چې اوس دهغې دوزخ دعذاب خوند اوځکئ	چې تاسوبه دروغ ګڼرلو			
وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ	مِّنَ الْعَذَابِ	الْاَدْنٰى	دُوْنَ	الْعَذَابِ
او خامخا به مونږ څکوو دوئ ته	دعذاب	نزدې نه	مخکښې	دعذاب
اومونږ به ورته دهغه لوئې عذاب نه وړاندې دلته نزدې سزا هم ورکړو				
لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُوْنَ ۝	وَمَنْ	اَظْلَمُ	مِمَّنْ
دپاره ددې چې دوئ	واپس شی (بغاوت) نه	او څوک دې	ډير ظالم	دهغه چانه
کيدې شی چې دوئ (حقې لارې) ته واپس شی	اود هغه چا نه غټ ظالم څوک کيدې شی			
ذُكِّرَ	بِاٰيٰتِ	رَبِّهٖ	ثُمَّ	اَعْرَضَ
چې نصيحت اوکړې شی هغه ته	په آيتونو	درب خپل سره	بيا	مخ واړوی
چې دخپل رب آيتونه ورته رايادکړې شی	اودې ترې نه بيا هم مخ اړوی			
اِنَّا	مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ	مُنْتَقِمُوْنَ ۝		
بيشکه مونږه	ددې اسې مجرمانو نه	خامخا بدله اغستونکی يو		
مونږ به خامخا دمجرمانو نه بدله اخلو				

قوله تعالى:: اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا

مومن اوفاسق برابر نه دي:- د الله تعالى د کرم اوعدل بيان په دې آياتونوکښې دې چه د هغه په نيز نيکوکار اوبدکاربرابر نه دي. لکه چه ارشاد دې ﴿ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝﴾ (۱) يعنى آيادغه خلق چه کومې بدئى کوى داخيال ئى کړې دې چه دوى به د ايماندارو او نيک عمل کونکو په شان کړى؟ د هغوى مرګ او ژوند برابردي؟ داځنګه خرابې منصوبې جوړوى. بل آيت کښې دى ﴿ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۡ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ۝﴾ (۲) يعنى ايماندار اونيک عمل خلق به مونږ د زمکې د فسادياتو برابر کړو؟ پرهيزګاران

---

(۱) ٤٥/الجاثية: ٢١.

(۲) ٣٨/ص: ٢٨.

په د ګناهګارانو برابر کړو؟ بل آیت کښې دی ﴿لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۭ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ﴾ (۱). دوزخیان اوجنتیان برابریدې نه شي.دلته هم اوفرمانیلې شو چه مؤمن اوکافر به د قیامت په ورځ په یوه درجه کښې نه وی. وائی چه دا آیت د حضرت علی ﷺ اوعقبه بن ابی معیط باره کښې نازل شوی دی. (۲) بیانی د دې دواړو قسموتفصیل بیان کړو چه کوم یود خپل زړه نه د کلام الله تصدیق اوکړو اود هغې مطابق ئی عمل هم اوکړو نو هغوی ته به هغه جنتونه ملاویږی په کوم کښې چه مکانات دی اوچتې بالاخانې دی اود آرام اوسیدو ټول سامان. دا د هغوی د نیکوعملونوبدله اومیلمستیاده اوکوموخلقو چه اطاعت پریخودو د هغوی ځای دوزخ دې دکوم نه چه به هغوی نه شی وتلې. لکه چه بل آیت کښې دی ﴿كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ اُعِيْدُوْا فِيْهَا ۣ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ﴾ (۳) یعنی چه کله هم د هغه ځای د غم نه خلاصې غواړی ورټونبلې به شی.

قوله تعالی:: اُعِيْدُوْا فِيْهَا

د جهنمیانو لاسونه پښې به تړلی وی:: حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله فرمانی والله د هغوی پښې لاسونه به تړلې وی د اور شغلې به هغوی ښکته پورته اوړی فرښتې به هغوی ته سزاګانې ورکوی او په رټلوسره به ورته فرمائی د دې دوزخ د عذاب خوند واخلئی کوم چه تاسو دروغ ګنړلو.

قوله تعالی:: مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى

ددې نه څه مراد دې؟:: د ادنی عذاب نه مراد د دنیا مصیبتونه آفتونه غم درد بیمارئی دی. دا د دې د پاره وی چه انسان هوښیارشي اوالله تعالی طرف ته تیت شی(۴) اود غټو عذابونونه خلاصې حاصل کړی.یوقول داهم دې چه د دې نه مراد ګناهونوهغه مقررکړې شوی سزاګانې دی کومې چه په دنیا کښې ورکولې شی کوم ته چه په شرعی اصطلاح کښې حدودوائی. اوداهم روایت دې چه دې نه عذاب قبر مراد دې. په نسائی کښې دی چه دې نه مراد قحط کالی ده. حضرت ابی ﷺ فرمانی د سپوږمۍ شلیدل د لوګی راتلل اونیونکې او بردبادونکې عذاب. (۵) اود بدر په ورځ د دغه کافرانو قیدکول اود هغوی قتل کول ځکه چه د بدر دې شکست د مکې معظمې کور کور د ماتم ځای جوړکړې وو. د دې عذابونوطرف ته په دې آیت کښې اشاره ده. بیافرمائي چه څوك د الله تعالی آیاتونه واوری د هغې په وضاحت باندې پوهه شی بیا د هغې نه مخ واړوی اود هغې نه انکاراوکړی د هغه نه به لوئ ظالم بل څوك وی؟

قوله تعالی:: اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ

حضرت قتاده رحمه الله فرمانی چه د الله تعالی د ذکر نه پډه مه کوه داسې کونکی بې عزت بې وقعت اولوئی ګناهګاران دی. دلته هم ارشاد فرمائیلې شی چه د داسې ګناهګارانو نه به مونږ ضرور بدله او انتقام اخلو. د حضرت رسول مقبول ﷺ ارشاد دې دری کارونه چه چا اوکړه هغه مجرم شوچاچه بغیر وجه یوه جهنډا اودرولې چا چه د مور پلار نافرمانی اوکړه چا چه د ظالم په ظلم کښې د هغه ملګرتیااوکړه. دامجرمان خلق دی اود الله تعالی فرمان دې چه مونږ به د مجرمانونه تپوس پوښتنه کوو اود هغوی نه به پوره بدله اخلو. (ابن ابی حاتم)

---

(۱) ۵۹/الحشر:۲۰.
(۲) الطبری:۲۰/۱۸۸.
(۳) ۲۲/الحج:۲۲.
(۴) الطبری:۲۰/۱۸۹-۱۹۰.
(۵) احمد:۵/۱۲۸وسنده صحیح.

Scanned with Ca

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا

| او خامخا ورکړي دي مونږه |

او مونږ موسی علیه السلام ته

مُوْسَى الْكِتٰبَ فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ

موسی ته | کتاب | پس مه کیږه ته | په شك کښې | دملاقات ددغه څیز نه |

کتاب (تورات) ورکړي وو | نو ته د الله ﷻ سره په ملاقات کښې هیڅ شک مه کوه

وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ

او جوړ کړي ووُ مونږ هغه | هدایت | دپاره دبنی اسرائیلو | او جوړ کړل مونږه | دهغوئ نه |

او هغه مو د بنی اسرائیلو دپاره دهدایت سبب ګرځولي وو | او په هغوئ کښې مو نور

اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا ؕ

امامان (مشران) اچی لاره به ئې (خلقو ته) ښودله | په حکم زمونږ سره | هر کله چې اصبر اوکړو هغوئ

ډیر پیشوایان پیدا کړي وو | چې زمونږ په حکم به ئې خلقو ته نیغه لاره خودله | ځکه چې دغه نیکانو

وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ ۝ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ

اووو هغوئ | په آیتونو زمونږ باندې | چې یقین به ئې کوؤ | بیشکه | رب ستاسو دی | هم هغه به

صبر کولو | او زمونږ په آیتونو به ئې یقین کولو | ..... بیشکه ستا رب به

يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا

فیصله اوکړي | په منځ ددې بنی اسرائیلو کښې | په ورځ دقیامت | دهغه خبرو | چې ووُ هغوئ

پخپله دقیامت په ورځ ددوئ په مینځ کښې د هغه خبرو په باره کښې فیصله اوکړي | کومو کښې چې

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝

په هغې کښې | چې اختلاف به ئې کولو |

دوی اختلاف کولو

قوله تعالی:: فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ

د معراج په شپه د حضور ﷺ د حضرت موسی علیه السلام سره ملاقات:- فرمائی چه مونږ موسی علیه السلام ته کتاب توراة ورکړو دهغه دملاقات باره کښې شك شبه مه کوئی. قتاده رحمه الله فرمائی یعنی دمعراج په شپه.(۱) په حدیث کښې دی چه ما د معراج په شپه حضرت موسی علیه السلام بن عمران اوکتلو چه هغه غنم رنګې اوږد قدوالا کورګوچې ویښتو والا ووداسې لکه چه د قبیله شنواة خلق دی. هم په هغه شپه ما حضرت عیسی علیه السلام هم اولیدو هغه درمیانه قد اوسورسپین وونیغ ویښته ئی وو. ما هغه شپه حضرت مالك علیه السلام هم اولیدو کوم چه د دوزخ داروغه دي. اودجال مې اولیدو دا ټول د هغه نښونه دی کومې چه الله

---

(۱) الطبری: ۱۹۳/۲۰.

Scanned with Ca

تعالی حضور ﷺ ته اوخودلې. نوتاسو د هغه په ملاقات کښې شك شبه مه کوئی. حضور ﷺ یقینا حضرت موسی ﷺ اولیدلو هغه سره ملاوشو په کومه شپه چه دغوی ته معراج اوکړې شو. (۱)

وَجَعَلْنٰهُ هُدًى نه څه مرادی ؟::موسی ﷺ مونږ د بنی اسرائیلودَ هدایت د پاره جوړ کړې وو. (۲) اودا هم کیدې شی چه داکتاب مونږ د اسرائیلیانودَ پاره هدایت جوړکړې وی لکه چه په سورت بنی اسرائیل کښې دی ﴿ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ۝﴾ (۳) یعنی مونږ موسی ﷺ ته کتاب ورکړو اوهغه مودَ بنی اسرائیلود پاره هادی جوړکړو چه تاسو زما نه بغیربل څوك کارسازمه ګنړئی. بیافرمائی چه هغه د الله تعالی احکام په ځائ د راوړو اودَ هغه نافرمانئی پریخودو اودَ هغه د خبروتصدیق اودَ هغه د رسولانو په تابعدارئی باندې په صبرکلك ولاړوو نو مونږ د هغوی نه دهدایت پیشواجوړکړل. کوم چه د الله تعالی احکام خلقوته رسوی. د نیکئی طرف ته رابلل کوی د بدو نه منع کول کوی خوچه کله د هغوی حالت بدل شو هغوی په کلام الله کښې بدلون تحریف اوتاویل شروع کړو نوالله تعالی هم د هغوی نه دامنصب واخستلو. نیك عمل اوصحیح عقیدې د هغوی نه لرې کړې شوې. او دوی د دنیانه بچ شوی وو. حضرت سفیان ثوری رحمه الله فرمائی داخلق هم داسې وو انسانانوله لائق دی چه د هغوی پیشواوی چه د هغوی په اقتداکولوسره د دنیانه بچ شی. هغوی فرمائی چه د دین د پاره علم ضروری دې لکه څنګه چه د بدن د پاره خوراك ضروری دې. د حضرت سفیان ثوری رحمه الله نه د حضرت علی ﷺ د دې فرمان باره کښې تپوس اوشو چه دصبردرجه په ایمان کښې څنګه ده؟ وئې فرمائیل چه داسې دی لکه سر په بدن کښې. آیا تا د الله تعالی دا فرمان نه دې اوریدلې چه مونږ د هغوی د صبرپه وجه هغوی داسې پیشوا جوړکړل چه هغوی به زمونږ د حکم هدایت کولو. هغوی اوفرمائیل چه مطلب دادې چه هغوی ټول کارونه په سر اخستې وونوالله تعالی هم هغوی پیشوا جوړکړل. ارشاد دې چه مونږ بنی اسرائیلو ته کتاب حکمت او نبوت ورکړو اوپاك رزق مو ورنصیب کړو اودَ جهان په خلقو باندې مو فضیلت ورکړوالخ. دلته ئی هم د آیت په آخر کښې اوفرمائیل چه په کومو عقیدو او اعمالوکښې د هغوی اختلاف وو دهغوی فیصله به پخپله الله تعالی د قیامت په ورځ اوکړی.

					اَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ گم
					آیا هدایت ملاؤ نه شو دوئ ته | چې څومره ډیر
					آیادوئ ددې خبرې نه هم سبق وانه خستلو | چې مونږ
اَهْلَكْنَا	مِنْ قَبْلِهِمْ	مِّنَ الْقُرُوْنِ	يَمْشُوْنَ	فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ	
هلاك کړی دی مونږه | مخکښی ددوئ نه |	قومونه	اچی نن ګر ځی دوئ اپه کورونودهغوئ کښی			
ددوئ نه وړاندې څومره قومونه هلاك کړی دی | اچې نن دهغوئ په کورونو تیریږی راتیریږی					
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ ؕ	اَفَلَا يَسْمَعُوْنَ ۝	اَوَلَمْ يَرَوْا	اَنَّا	
بیشکه په دې کښې | ډیری نښې دی |	آیا دوئ اوری نه		آیا اونه ګوری دوئ | چې مونږه		
بیشکه په دې کښې لوئې نښې دی | نو آیا دوئ نه اوری |			آیا دوئ چرې غور نه دې کړې		

(۱) الطبری: ۱۹٤/۲۰.
(۲) الطبری:۱۲۷۵۸.
(۳) ۱۷/الاسراء:۲.

Scanned with Ca

نَسُوْقُ	الْمَآءَ	اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ	فَنُخْرِجُ	بِهٖ	زَرْعًا
بیایوؤ	اوبه	زمکې وچې ته	پس رااوباسو مونږه	په هغې سره	فصل
چې اوچې زمکې طرفته اوبه رسوو	..... نو مونږ ددې په ذریعه فصلونه				
تَاْكُلُ	مِنْهُ	اَنْعَامُهُمْ	وَاَنْفُسُهُمْ ؕ	اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ۝	
چې خوراك کوی	دهغې نه	څاروی ددوئ	او نفسونه ددوئ	آیا دوئ ګوری نه	
راتوکوو	.....چې ددوئ څاروی اوپخپله دوی ئې هم اوخوری			آیا دوئ وینی نه؟	

قوله تعالی:: اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ اِلَى الْاَرْضِ

د رسولانود مخالفت انجام:- آیادوی د دې خبرې د کتلونه پس هم په نیغه لار نه ځی؟ د هغوی نه وړاندې مونږ ګمراه خلق تباه اوبربادکړی دی. نن دهغوی پته نه لګی. هغوی هم رسولان دروغ ګڼړل او د الله تعالی د خبرونه ئی بې پرواهی اوکړه. اوس هم داتکذیب کونکی دهغوی په مکانونوکښې اوسیږی. دهغې ویرانې د هغوی د وړاندینو مالکانو هلاکت دهغوی په وړاندې دې خودوی بیاهم عبرت نه حاصلوی. هم داخبره قرآن کریم په څوځایونوکښې بیان فرمائیلې دې. چه غیر آباد کنډرې دا وران محلونه خوستاسودستر ګواوستاسود غوږونو کولاوولو د پاره په خپل ځان کښې ډیرې ننبې لری. ګورئی د الله تعالی خبرې نه منلو اود رسولانو سپکاوې کولو څومره خراب انجام شو. ولې ستاسو غوږونه د هغوی د خبرو نه نااشنادی؟

قوله تعالی:: اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ

داولې لختی نهرونه اَبشارونه اوسمندرونه د الله تعالی د قدرت نخښې دی:- بیا الله تعالی خپل لطف کرم احسان اوانعام بیان فرمائی چه د آسمان نه اوبه نازلوی د غرونود اوچتوځایونونه رابهیږی لختو دریابونو په ذریعه اخوادیخوا خوریږی. په شاړو زمکوکښې په دې سره آبادی اوشینکې راځی. اوچوالې په لوندوالی سره مرګ په ژوندسره بدلیږی. د مفسرینوقول داهم دې چه د(جرز)د مصر زمکه ده خودا ټیك نه دی. اوکه په مصر کښې هم داسې زمکه وی نو وی به په آیت کښې مراد هغه ټولې حصې دی کومې چه اوچې شوی وی کومې چه د اوبوحاجت مندې وی سختې شوې وی زمکه د یوځای کیدو په وجه چاوړلې وی. بې شکه د مصر زمکه هم داسې ده د دریائې نیل نه هغه خروب کیږی. د حبشو د بارانونو اوبه خپل ځان سره سره خاوره هم راکاږی اود مصر زمکه کومه چه شاړه او شګلنه ده هغه ددې اوبواو د دې خاورې په وجه د کرقابله کیږی او په هرکال کښې د هر فصل غله تازه په اوبوسره دوی ته حاصلیږی کومه چه د اخوانه دیخوا وی. د هغه حکیم کریم منان اورحیم خودا ټولې مهربانئی دی. هم د هغه ذات د تعریف قابل دی.

یوه عبیه واقعه:: روایت دې چه د مصر خلق د بوونه په میاشت کښې حضرت عمرو بن عاص ﷺ له راغله وئی وئیل زمونږ پخوانې عادت دې چه په دې میاشت کښې څوك دریاب د نیل کښې ورغورزوو اوکه وئی نه غورزوو نو په دریاب کښې اوبه نه راځی. مونږ داسې کوو چه د دې میاشتې په دولسم تاریخ باندې یوه پیغله جینئی راواخلو چه د خپل مور پلار یوه لور وی د هغې پلار مور له څه ورکړو رضائی کړو اوهغې ته ډیرې قیمتی کپړې اوښکلې کالی وغیره واچوو اود ښه ښائسته کولونه پس نی په دې دریاب کښې وراچوو نود دې اوبه روانې شی ګنی اوبه هډو راخیژی نه. سپه سالار اسلام حضرت عمرو بن عاص ﷺ فاتح مصر جواب ورکړو چه دا یود جاهلانو او بې وقوفانو رسم دې اسلام د دې اجازت نه ورکوی. اسلام خود داسې عادتونود ختمولود پاره راغلې دې. تاسو داسې نه شئی کولې هغوی رامنع

Scanned with Ca

شو د نیل د دریاب اوبه راونه ختې میاشت تیره شوه خو دریاب اوچ پروت دې. خلق تنګ شو اوارادې نی اوکړې چه مصر پریږدی د دې ځای استوګنه پریږدی. اوس د فاتح مصر داخیال راتیریږی اود خلافت دربارته خبر لیګی. هم هغه وخت د خلیفة المسلمین امیرالمؤمنین حضرت عمر بن خطاب ﷺ د طرف نه جواب ملاویږی تاچه څه اوکړه نو ښه دې اوکړه اوس زه په دې خپل خط کښې یوه پرچه د نیل د دریاب باره کښې درلیګم ته دا واخله اوپه دریاب کښې اوغورزوه. حضرت عمرو بن عاص ﷺ دا پرچه کولاوکړه اووئی لوستله نو په دې کښې لیکلې وو چه داخط دې د الله تعالی د بنده امیرالمؤمنین د طرف نه د اهل مصر دریاب نیل طرف ته پس د حمد اوصلوة نه. خبره داده که ته په خپله مرضئ اود خپل طرف نه روان ئی نوخیر دې مه روانیږه اوکه الله تعالی چه واحداوقهاردې تاروانوی نومونږ د الله تعالی نه دعاغواړو چه تاروان کړې. داپرچه عسکر امیر په دریاب د نیل کښې اوغورزوله. اوس لا یوه شپه هم تیره نه وه چه په دریاب د نیل کښې شپاړس لاسه ښکته اوبه روانې شوې اوهم هغه وخت د مصر اوچ کالی په ترکالئی اوګرانی په ارزانئی سره بدله شوه. د خط سره ټول خایونه شنه اوآباد شو اودریاب په پوره روانئی سره روان شو. دې نه پس چه هرکال به کوم بنیادم ورغورزولې شو هغه بچ شو اود مصر نه دا ناپاکه رسم د همیشه د پاره ختم شو. هم د دې آیت د مضمون آیت داهم دې. ﴿فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلَىٰ طَعَامِهِ﴾ (۱) یعنی انسان دې خپل خوراك ته اوګوری چه مونږ باران نازل کړو اوزمکه مو اوشلوله غله اومیوې پیداکړې شو. اودغه شان نی دلته هم اوفرمائیل چه داخلق دې ته نه ګوری؟ حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی جرز هغه زمکه ده په کومه چه باران ناکافی وریږی. بیا هغه د لختو او نهرونوپه اوبوسره خړوب کیږی. مجاهد رحمه الله فرمائی دازمکه د یمن ده. حسن رحمه الله فرمائی چه داسې کلی په یمن او شام کښې دی. ابن زید رحمه الله وغیره قول دې چه داهغه زمکه ده په کومه چه پیداوار نه کیږی اود وړو وی. په دې آیت کښې بیان فرمائیلې دې ﴿وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَاهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ﴾ (۲) د دوی د پاره مړه زمکه هم یوه نښه ده کومه چه مونږ ژوندئی کوو.

وَيَقُولُونَ	مَتَىٰ	هَٰذَا الْفَتْحُ	إِن كُنتُمْ	صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾	قُلْ
او وائي دوئ	کله به وی	دافتح (فیصله)	که یئ تاسو	رښتینی	ورته اووایه
او دوئ وائی که تاسو رښتونی یئ نو اوښائ چې دا آخری فیصله به کله وی					ورته اووایه
يَوْمَ الْفَتْحِ	لَا يَنفَعُ	الَّذِينَ	كَفَرُوٓا	إِيمَٰنُهُمْ	
په ورځ دفیصلې به	فائده اونه رسوی	هغه کسانوته	چې کفر ئې کړې دې	ایمان راوړلو هغوئ	
د فیصلې په ورځ به کافرانو ته ایمان هیڅ فائده نه ورکوی			اونه به ورته څه		
وَلَا	هُمْ	يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾	فَأَعْرِضْ	عَنْهُمْ	وَانتَظِرْ
اونه به	هغوئ ته	مهلت ملاویږی	پس اوګرزوه مخ	ددوئ نه	او انتظار کوه ته
مهلت ورکړې شی	..... نو ته ددوئ دوینا خیال مه ساته				او (دحق دغلبې) انتظار کوه
إِنَّهُم	مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾				
بیشکه دوئ هم	انتظار کونکی دی				
دوئ هم (لګیا دی) انتظار کوی					

(۱) ۸۰/عبس: ۲۴.
(۲) ۳۶/یس: ۳۳.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ

کافرانوته د قیامت د انتظار حکم:- کافرانوبه په اعتراض کولوسره وئیل اې نبی داته چه مونږ ته وائې او خپل ملګری دې هم مطمئن کړی دی چه تاسو به په مونږ باندې فتح بیامومنی اوزمونږ نه به بدله اخلئی نو هغه وخت به کله راځی؟ مونږ خودَ مودونه تا مغلوب ښکته او بې وقعته وینو پتیږې ویریږې که رښتونې نې نودَ خپلې فتح اوغلبې وخت خو اوښایه. الله تعالی فرمائی چه کله د الله تعالی عذاب راشی اوکله د هغه غصه او غضب نازل شی که په دنیاکښې وی که په آخرت کښې وی هغه وخت نه ایمان نفع ورکوی اونه مهلت ملاویږی. لکه چه ارشاد دې ﴿ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴾ (۱) یعنی کله چه هغوی له دالله تعالی پیغمبرﷺ دلیلونه راوړل راغلونو دوی په خپل علم باندې ناز اوفخر کولو دَ پوره دوو آیاتونوپورې د دې نه د مکې فتح مراد نه ده. د مکې د فتح په ورځ خورسول الله ﷺ دَ کافرانو اسلام قبلول فرمائیلې وو اوتقریبًا دوه زره کسان په هغه ورځ مسلمانان شوی وو. که په دې آیت کښې د مکې فتح مرادوه نو پکار ووچه د الله تعالی پیغمبرﷺ د هغوی ایمان نه قبلولولکه چه په دې آیت کښې دی چه په هغه ورځ به د کافرانو اسلام قبلول نامنظور وی. بلکه دلته دَ فتح نه مراد فیصله ده. لکه چه قرآن پاک کښې دی ﴿ فَافْتَحْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَّنَجِّنِيْ وَمَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (۲) زمونږ په مینځ کښې ته فتح اوکړه یعنی فیصله اوکړه. اولکه چه بل مقام کښې ارشاد دې ﴿ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ۭ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴾ (۳) یعنی الله تعالی به مونږ راجمع کړی بیابه زمونږ په مینځ کښې فیصلې فرمائی. یوبل آیت کښې دی ﴿ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ ﴾ (۴) دافیصله غواړی سرکش اوضدیان تباه شو. بل ځای دی ﴿ مَعَهُمْ ۭ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ ۚ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴾ (۵) دې نه وړاندې به دوی کافرانو باندې فتح غوښتله. بل آیت کښې دَ الله سبحانه وتعالی ارشاد دې اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ ۚ وَاِنْ تَنْتَهُوْا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَعُوْدُوْا نَعُدْ ۚ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـــًٔا وَّلَوْ كَثُرَتْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (۶) که ته دَ فیصلې خواهش مندئی نوواخله فتح راغله. بیافرمائی چه ته دَ دې مشرکانونه بې پرواه شه. کوم چه الله تعالی نازل کړی دی هغه رسوه. لکه چه په یوبل آیت کښې دی دَ خپل رب دَ وحی تابعداری کوه اودَ هغه نه بغیربل څوک معبود نشته. بیا فرمائی ته د خپل رب وعدې رښتونې منه د هغه خبرې اتل دی. دَ هغه فرمان رښتونې دې هغه به ډیر زر تا په خپلو مخالفینوباندې غالب کړی اوهغه دَ وعده خلافئی نه پاک دی. دوی هم په انتظاردی غواړی چه په تاسو باندې څه آفت راشی خودَ دوی داغوښتنې بې فائدې دی. الله تعالی خپل نه هیروی نه هغوی پریږدی. ښه ده چه څوک دَ الله تعالی په احکاموباندې کلك دی دَ الله تعالی خبرې نورو ته اورسوی اوهغوی به ایزدی تائید نه څنګه محروم کړې شی؟ دوی چه داځه په تا باندې لیدل غواړی هغه به هم په دوی باندې راکوزیږی. بدحالئی ماتې په چغوصورو اوفریاد کښې به راګیروی. دَ الله تعالی دَ عذابونو ښکار به وی. اووایه چه الله تعالی مونږ له کافی دې اوهم هغه بهترین کارسازدې.

﴿الحمدلله﴾ دَ الله تعالی په فضل اوکرم اولطف اورحم سره د سورت سجده تفسیرختم شو.

---

(۱) ۴۰/المؤمن:۸۳.
(۲) ۲۶/الشعراء:۱۱۸.
(۳) ۳۴/سبا:۲۶.
(۴) ۱۴/ابراهیم:۱۵.
(۵) ۲/البقرة:۸۹.
(۶) ۸/الانفال:۱۹.

Scanned with Ca

(تفسیر سورت احزاب)

حضرت زر رحمہ اللہ د حضرت ابی بن کعب رضی اللہ عنہ نه تپوس اوکړو چه د سورت احزاب څومره آیاتونه شمیرلې کیږی؟ نوهغوی اوفرمائیل دري اویا (۷۳). حضرت ابی رضی اللہ عنہ اوفرمائیل چه نه ماخولیدلې دی چه داسورت د سورت بقره سره نیزدې نیزدې وو. هم په دې کښې به هم دا آیت لوستلی کیدو.((الشیخ والشیخة اذا زنیا فارجموهما البتة نکالا من الله والله عزیزحکیم)) یعنی کله چه بوډا سړی او بوډنی ښځه بدکاری اوکړی نوهغه ضرور سنګسار کړی دا سزا د الله تعالی د طرف نه ده الله تعالی ډیر غالب اوحکمت والا دی. (۱) د دې نه معلومیږی چه د دې سورت نه څه آیاتونه د الله تعالی په حکم سره اخواکړې شو. والله اعلم.

ایاتونه		سورة الاحزاب مدنية وهي ثلاث وسبعون آية وتسع ركوعات		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۱		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		۹
يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ				
اے نبی | او یریږه دالله نه | او مهٔ منه خبره دکافرانو | او دمنافقانو | بیشکه الله				
اې نبی ﷺ ته د الله ﷻ نه ویره کوه |اودکافرانو اومنافقانو خلقو تابعداری مه کوه | بیشکه الله ﷻ				
كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۙ وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ				
دې عالم په هر څه | ښه حکمت والا | او پیروی کوه | دهغه خبری | چی دکومې وحی کیږی | تاته |				
ډیر ښه پوهه او صاحب دحکمت دې | اودخپل رب نه چې درته کومه وحی کیږی |				
مِنْ رَّبِّكَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۙ				
دطرفه درب ستا نه | بیشکه الله | دې | په هغه کارونو | چی کوئ ئې تاسو | ښه خبردار |				
..... | دهغې تابعداری کوه | بیشکه الله ﷻ ستاسو په کارونو خبر دې				
وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝				
او توکل کوه | په الله باندې | او کافی دې | الله | کار جوړونکې |				
اوپه الله ﷻ بهروسه کوه |... او هم هغه الله ﷻ کافی کارساز دې |				

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ

خطاب نبی ﷺ ته دې او مراد تری امت دې:- دَتنبیه یوموثرصورت داهم دې چه لوئ ته وایه وړوکې به هوښیاریږی. کله چه الله تعالی خپل نبی ﷺ ته څه خبره په زور اوتاکید سره کوی نوښکاره خبره ده چه په نورو باندې به دغه زور او تاکید نور هم زیات وی. تقوی دې ته وائی چه د الله تعالی د هدایت مطابق د ثواب د غوښتو په نیت سره د الله تعالی د حکم تابعداری اوکړې شی اود الله تعالی د حکم مطابق د هغه د عذابونونه د بچ کیدو د پاره د هغه نافرمانئ پریخودې شی. د کافرانو اومنافقانو خبرې مه منه اومه د هغوی په مشورو باندې کاربندکیږه او مه د هغوی خبرې د قبلیدو په ارادہ اوره. دعلم اوحکمت مالك هم الله تعالی دې. هغه په خپل وسیع علم سره د هر کار نتیجه پیژنی اود خپل ډیر

---

(۱) عبدالله بن احمد فی زوائده: ۱۳۲/۵ وسنده حسن، الکبری: ۷۱۵، ابن حبان: ۴۴۲۹، مسند الطیالسی: ۵۴۰. (مسند احمد)

Scanned with Ca

زیات حکمت په وجه د هغه هیڅ یوکار بغیرد حکمت نه نه وی ته خو هم د هغه تابعداری کوه دې د پاره چه د خراب انجام او ورانی نه بچ شې. کوم قرآن اوسنت چه ستا طرف ته وحی کولې شی د هغې تابعداری کوه اود الله تعالی هیڅ یوشیزهم پټ نه دی.

په الله تعالی باندې توکل ساته :: په خپلو ټولو امورو اوکارونوکښې په الله تعالی باندې یقین ساته. په هغه باندې د یقین ساتونکود پاره هغه کافی دې. ځکه چه هغه په ټولوکارونو سازولوباندې قادر دې. دهغه طرف ته ټیټیدونکې کامیاب اوهم کامیاب دې.

مَا جَعَلَ اللّٰهُ	
نه دی پیدا کړی | الله |	
.....الله ﷻ دهیڅا	
لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمْ	
یو سړی لره | دوه زړونه | په دننه بدن دهغه کښې | اونۀ دی ګرځولی | ښځې ستاسو |	
په سینه کښې دوه زړونه نه دی پیدا کړې | اوتاسو چې دکومو ښځو نه ظهار اوکړئی	
الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ	
هغه ښځې | چې تاسو ظهارکوئ | دهغوئ سره | میندې ستاسو | اونۀ نې دی جوړ کړی |	
هغه ئې ستاسو میاندې نه دی ګرځولې | اونه ئې ستاسو په خوی توب سره نیولی هلکان (په رښتیا)	
اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ؕ	
دخلې بللی خامن ستاسو | حقیقی خامن ستاسو | داخبری دی ستاسو | په خلو ستاسو |	
ستاسوحقیقی خامن ګرځولی دی | .....داخو هسې ستاسو دخلې خبرې دی	
وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِى السَّبِيْلَ ۝ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ	
او الله | وانی حق | او هغه | ښانی | لاره صحیح | رابلئ دوئ | پلارانو خپلو ته |	
اوالله ﷻ حقه خبره کوی | او هغه نیغه لار ښائی | .....دغه هلکان دخپلو پلارانو په نومونو بلئ	
هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ	
دا ډیره دانصاف خبره ده | په نز دالله | اوکه معلوم نۀ وی تاسو ته | پلاران ددوئ | پس دوئ رونړه دی ستاسو	
دا خبره د الله ﷻ په نزد ډیره دانصاف ده | نوکه تاسو ئې پلاران نه پیژنئ | انو هغوئ ستاسو دینی رونړه	
فِى الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ؕ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيْمَآ	
په دین کښې | او دوستان دی ستاسو | او نشته په تاسو باندې | ګناه | په هغې کښې |	
او دوستان دی | .....اوکه په دې کښې درنه څه غلطی اوشی | انو هیڅ ګناه	
اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ	
چې خطاشئ تاسو | په هغې | اولیکن شته ګناه | په هغې کښې | چې دکومې اراده اوکړی | زړونه ستاسو	
درباندې نشته | خو ګناه په هغه صورت کښې ده | چې څه تاسو د زړه پۀ اراده سره اوکړئی	

Scanned with Ca

وَكَانَ اللّٰهُ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا ۝	
او دي الله	ببښونکي	مهربانه	
اوالله ﷻ ببښونکي اومهربان دي			

قوله تعالى:: مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ

دَ چا نه اخستې شوې حقیقی خوئې نه شی جوړیدی:- دَ مقصد بیانولونه وړاندې دَ مقدمې اوثبوت په توګه مثلاًیوه خونې هغه خبره بیان کړه کومه چه ټول محسوس کوی اوبیادَهغې نه ذهن اخواکولوسره دَ مقصدطرف ته اوړی. ارشاد فرمائی چه داخوښکاره خبره ده چه دَ یوانسان زړونه هم دوه نه وی دغه شان تاسو پوهه شئی چه کومې خپلې ښځې ته ته مور اووائې نوهغه واقعی مور نه جوړیږی. ټیك هم دغه شان دَ بل چا اولاد خپل خوئ جوړولوسره هغه دَ رښتیاوخوئ نه جوړیږی. که خپلې ښځې ته سړی په حالت دَ غصې اوغضب کښې اووئیل چه ته په ماداسې ئی لکه زما د مور دَ شا نوپه دې وینا کولو سره هغه دَ رښتیاومور نه جوړیږی. لکه چه ارشاد دې ﴿مَا هُنَّ أُمَّهٰتِهِمْ ۚ إِنْ أُمَّهٰتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ ۗ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا ۗ وَإِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ۝﴾ (۱) یعنی داسې وئیلوسره هغوی میندې نه جوړیږی. مورخو هغه ده دَ چا دَ خیټې نه چه دې پیداشوې دې. دَ دې دواړو خبرو بیانولونه پس ئی اصل مقصدبیان اوفرمانیلو چه ستاسو ساتلې شوی هلکان هم ستاسو حقیقی اولاد نه شی جوړیدې.

قوله تعالى:: وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ

دایت مبارک شان نزول څوک دی؟: دا آیت دَحضرت زیدبن حارثه ﷺ په باره کښې نازل شوې دې. چه دَ حضور ﷺ آزادکړې شوې وو حضور ﷺ دَ نبوت نه وړاندې په خپل خوئ ولې نیولې وو. هغه ته به زیدبن محمد ﷺ وئیلې کیدو. په دې آیت سره دا نسبت او دارشته ماتول منظور دی لکه چه دَ دې سورت په شروع کښې دی ﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلٰكِن رَّسُولَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ۝﴾ (۲) په تاسوکښې دَ یو سړی هم محمد ﷺ پلار نه دې بلکه هغه دَ الله تعالی رسول ﷺ او خاتم النبیین دې اوالله تعالی ته دَهریوشیئ علم دې. دلته فرمائی چه داخوستاسو یوه زبانی خبره ده چه تاسو دَ چا خوئ ته دَ بل چاخوئی وائې په دې سره خو حقیقت بدلیدې نه شی. په اصل کښې خودَ هغه پلار هغه دې دَ چا دَ شانه چه دې راوتلې دې. داناممکن دی چه دَ یوسړی دوه پلاران وی. لکه څنګه چه داناممکن ده چه په یوه سینه کښې دوه زړونه وی. الله تعالی حق فرمانیلووالا او نیغه لارخودونکې دې.

بعضې خلق وائی چه دا آیت دَ یوقریشې باره کښې نازل شوې دې کوم چه مشهوره کړې وه چه دَ هغه په سینه کښې دوه زړونه دی اودَ دواړه دعقل اوپوهې نه ډك دی. الله تعالی دَ دې خبرې غندنه اوکړه. دَ حضرت ابن عباس ﷺ بیان دې حضوراکرم ﷺ په مانځه ووهغه ته څه خطره محسوس شوه نو په دې باندې چه کوم منافقان په مانځه کښې وو هغوی وئیل کوره دَ ده دوه زړونه دی یوتاسو سره یوهغه سره. په دې باندې دا آیت نازل شو چه الله تعالی د چا په سینه کښې دوه زړونه نه دی ایخودې.

زهری رحمه الله فرمائی چه داخوصرف دَ مثال په توګه فرمائیلې شوی دی یعنی څنګه چه دَ یوسړی دوه زړونه نه وی. (۳) دغه شان دَ یوخوئ دوه پلاران نه شی کیدې. هم دَ دې مطابق مونږ هم دَ دې تفسیر کړې دې. والله سبحانه وتعالی اعلم. اول خودا رخصت وو چه د چانه اخستې شوې هلك نسبت پالونکی طرف ته کولوسره خوئ وئیلې شو خواوس اسلام دا ختم کړو اووئی فرمانیل چه دهغوی کوم حقیقی

---

(۱) ۵۸/المجادلة:۲.

(۲) ۳۳/الاحزاب:۴۰.

(۳) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الاحزاب:۳۱۹۹، ، احمد:۱/۱۶۸،

Scanned with Ca

پلاران دی د هغوی طرف ته نی نسبت کولوسره رابلئي، عدل انصاف نیکی او نیغه لار هم دغه ده.
حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چه د دې آیت د نازلیدلونه وړاندې به مونږ (حضرت زید ﷺ) ته زیدبن محمد ﷺ وئیلو خودَ دې د نازلیدلونه پس مونږ دا وینا کول پریخوده. (۱) بلکه اول خودَ داسې اخستې شوی هلك هغه ټول حقوق وو کوم چه به د سکه اوحقیقی اولاد وو. د دې آیت د نازلیدونه پس حضرت سهله بنت سهیل رضی الله عنها د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه عرض ئی اوکړو یارسول الله ﷺ مونږ سالم خپل ځوئ جورکړی وو اوس خو قرآن پاك د هغه باره کښې فیصله اوکړه. ما د اوسه پورې د هغه نه پرده نه کوله هغه به تلوراتلو. خوزما خیال دې چه زماخاوندحضرت حذیفه ﷺ د هغه په داسې تلوراتلو باندې خفه دې. حضور ﷺ اوفرمائیل چه بیاځه دی خولاړه شه اوسالم له خپل پټی ورکړه په هغه باندې به حرامه شې. (۲) الغرض داحکم منسوخ شو اوس په صفاالفاظوکښې د داسې هلکانو د بنځو حلت دهغوی ځامن جورونکود پاره بیان اوفرمائیلو او کله چه حضرت زید ﷺ خپله بی بی صاحبه حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها ته طلاق ورکړو نوحضور ﷺ پخپله د هغې سره نکاح اوکړه اومسلمانان د دې یوګران کار نه هم خلاص شو. فالحمدلله. هم د دې لحاظ ساتلو سره چه چرته د حرامو بنځو ذکر اوکړې شو نو هلته اوفرمائیلې شو ﴿ وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ ٱلۡأُخۡتَيۡنِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴾ (۳) یعنی چه ستاسو د خپلې نطفې نه کوم هلکان وی نود هغوی بنځې په تاسو حرام دی اودغه شان رضاعی ځامن د نسبی او خاندانی په حکم کښې دی. لکه چه د بخاری اومسلم په حدیث کښې دی چه په رضاعت سره هغه ټولې رشتې حرام کیږی کومې چه په نسب باندې حرامې وی. (۴) داهم یادساتئی چه د مینې نه یوکس ته خوئ وئیل دایوبل څیز دې دامنع نه دی.
مسنداحمدوغیره کښې دی ابن عباس ﷺ فرمائی چه مونږ د عبدالمطلب د ټول خاندان واړه ماشومان د مزدلفه نه رسول الله ﷺ هم د شپې د جمراتو طرف ته رارخصت کړو اوزمونږ پنډئی ټپولو سره حضور ﷺ اوفرمائیل زمابچو د نمر د راختلونه وړاندې جمرات په کانړو باندې مه اولئی. (۵) داواقعه د لسم هجری د ذی الحجه د میاشت ده اود دې دلالت بنکاره دې. حضرت زید بن حارثه ﷺ د چا باره کښې چه دا حکم نازل شوپه اتم کال د هجرت په جنګ موته کښې شهیدشو. په صحیح مسلم کښې روایت دې چه حضرت انس ﷺ ته رسول الله ﷺ خپل ځوئ وئیلو سره راوبللو. (۶) د دې بیانولوسره د نورو نه اخستې شوی هلکان د خپل پلارطرف ته په نسبت کولوسره رابلئی نه د پالونکو طرف ته. بیافرمائی چه چرې تاسو ته د دوی د پلارانو علم نه وی نوهغوی ستاسودینی رونړه او دوستان دی.
دحمزه ﷺ د لونړو د کفالت تذکره او د رسول کریم ﷺ فیصله: حضور نبی کریم ﷺ چه کله د عمرة القضاء په کال د مکې مکرمې نه راواپس شو نود حضرت حمزه ﷺ لونړو به کاکا کاکا کولوسره حضور ﷺ پسې شاته منډې وهلې. حضرت علی ﷺ دا واخستې اوحضرت فاطمه رضی الله عنها ته نی ورکړې اوونی فرمائیل چه دا ستا د تره لونړه دی دوی په ښه شان سره اوساته. حضرت زید ﷺ اوحضرت جعفر ﷺ اوفرمائیل د دې ماشومانو حقدار مونږ یودوی به هم مونږ پالو. حضرت علی ﷺ فرمائیل چه نه دا به ماکره وی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب ﴿ادعوهم لابائهم هواقسط عندالله﴾:۴۷۸۲، صحیح مسلم:۲۴۲۵،ترمذی:۳۲۰۹.
(۲) صحیح مسلم کتاب الرضاع باب رضاعة الکبیر: ۱۴۵۳، ابوداؤد:۲۰۶۱، ابن حبان:۴۲۱۴ بتصرف یسیر. الخ.
(۳) ۴/النساء:۲۳.
(۴) صحیح بخاری کتاب الشهادات باب الشهادة علی‌الانساب والرضاع:۲۶۴۵، صحیح مسلم:۱۴۴۷.
(۵) ابوداؤد کتاب المناسك باب التعجیل من جمع:۱۹۴۰، نسائی:۳۰۶۶، ابن ماجه:۳۰۲۵، احمد:۱/۲۳۴.
(۶) صحیح مسلم کتاب الادب باب جواز قوله لغیر ابنه یابنی....:۲۱۵۱، ابوداؤد:۴۹۶۴، ترمذی:۲۸۳۱.

Scanned with Ca

جعفرؓ بن ابی طالب ونیل نه زما دتره لونړه دی ماسره به وی اود دوی خاله زما کره ده یعنی حضرت اسماء بنت عمیس رضی اللہ عنہا. آخر حضورﷺ دافیصله اوکړه چه دالونړه دې خپلې تروړسره وی خکه چه تړور دَ مور په خائ وی حضرت علی ؓ ته نی اوفرمانیل ته زما نی اوزه ستایم. حضرت جعفر ؓ ته نی اوفرمانیل ته په صورت اوسیرت کښې زما په شان نی.

حضرت زیدؓ ته نی اوفرمانیل چه ته زمونږ رور اوزمونږ مولی نی. (۱) په دې حدیث کښې ډیرزیات احکام دی دَ ټولونه بهترخودا دی چه حضورﷺ خوحق حکم واورولو اودعوی کونکی نی هم خفه نه کړل اوحضورﷺ هم په دې آیت باندې عمل اوکړو اوحضرت زیدؓ ته نی اوفرمانیل ته زمونږ رور اوزمونږ دوست نی. حضرت ابوبکر ؓ اوفرمانیل هم دَ دې آیت لاندې زه ستاسو رور یم. حدیث مبارک کښې دی چه کوم سړې په قصدسره خپل نسب دَ خپل پلار نه دَ بل چا طرف ته اوکړی هغه کفر اوکړو. (۲) دَ دې نه سخت وعیدمونږلې شی اوثابتیږی دَ صحیح نسبت نه خپل خان اخواکول ډیره لویه کبیره ګناه ده. بیا فرمانی چه تاسو پخپله چه تاسوکښې څومره طاقت دې اوپه تحقیق سره مو دَ چانسبت دَ چاسره کړو اوپه حقیقت کښې هغه نسب غلط وی نو په دې خطاباندې ستاسو رانیول نشته. دغه شان پخپله الله تعالی مونږ ته دَ دعاتعلیم راکړو چه مونږ د هغه په حضور کښې اووایو ﴿ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ ۖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ۚ أَنتَ مَوْلَانَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴾ (۳) ای الله مونږه په هیره اوخطا غلطی مه رانیسه. دَ صحیح مسلم په حدیث شریف کښې دی کله چه مسلمانانو دادعا اولوستله نوالله تعالی اوفرمانیل چه ما داقبوله کړه. (۴) په صحیح بخاری کښې دی چه کله حاکم په خپل کوشش کښې کامیاب شی اوپه خپل اجتهاد کښې صحت ته اورسی نوهغه ته دوه چنده اجرملاویږی اوکه خطااوکړی نوهغه ته یواجر ملاویږی. (۵) یوبل حدیث کښې دی الله تعالی زما امت ته خطاګانې هیره اوکوم کار چه دَ هغوی نه په زور سره اوکړې شی هغوی معاف کړی دی. (۶) دلته نی هم دا فرمانیلو سره اوفرمانیل کوم کارچه په قصد اوارادهٔ دَ زړه سره کوئی هغه بې شکه دَ راګیرولو قابل دې. دَ قسمونوباره کښې هم داحکم دې. پورته چه کوم حدیث بیان شوی دې چه نسبت بدلونکی دَ کفر ارتکاب کړې دې هلته هم دالفظ دې چه سره دَ پیژندګلو. دَ قرآن پاک آیت چه اوس تلاوتًا منسوخ شوې دې په هغې کښې وو((فان کفرابکم ان ترغبوا عن اباءکم)) یعنی ستاسودَ خپل پلار نه نسبت اړول کفردې. حضرت عمر ؓ فرمانی الله تعالی زمونږ پیغمبرﷺ په حقه سره رالیګلې دې هغوی سره نی کتاب نازل کړې دې په دې کښې دَ رجم هم آیت دې حضوراکرمﷺ پخپله هم رجم کړې دې (یعنی واده کړی زناکارسنګسارول) اومونږ هم د حضورﷺ نه پس رجم کړې دې. مونږ په قرآن پاک کښې هم دا آیت لوستلې دې دَ خپلو پلارانودَ خپل نسب سلسله مه اخواکونی خکه چه داکفر دې. دَ حضور ﷺ ارشاد مبارک دې ماتاسو په خپلو تعریفونوکښې دومره اوچت اوزیات مه یادونی لکه چه دَ عیسی ؓ بن مریم علیهاالسلام سره چه اوشو. زه خو دَ الله تعالی بنده یم نوتاسوهم ماته دَ الله تعالی بنده اورسول الله وانې. په یوروایت کښې صرف ابن مریم علیهاالسلام دې.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الصلح باب کیف یکتب هذاماصالح....:۲۶۹۹، احمد:۲۹۸/۴،ابن حبان:۴۴۸۷۳.

(۲) صحیح بخاری کتاب المناقب باب نمبر:۵ حدیث:۳۵۰۸، صحیح مسلم:۶۱.

(۳) ۲/البقرة:۲۸۶.

(۴) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان تجاوز الله تعالی عن حدیث النفس والخواطر....:۱۲۶.

(۵) صحیح بخاری کتاب الاعتصام باب الحجة علی من قال.....:۷۳۵۳، صحیح مسلم:۱۷۱۶.

(۶) ابن ماجه کتاب الطلاق باب طلاق المکره والناسی:۲۰۴۳وهوصحیح بالشواهد.

Scanned with Ca

(۱) یوبل حدیث کښې دی په خلقو کښې دري خصلتونه دی چه کفر دي. په نسب کښې پیغورونه ورکول په مړی باندې ژړا اود ستورو نه د باران غوښتنه. (۲)

اَلنَّبِيُّ	اَوْلٰى	بِالْمُؤْمِنِيْنَ		
نبی ﷺ	ډیر لائق دي	دمومنانو سره		
نبی ﷺ په مومنانو باندې د هغوئ دخپلو ځانونو				
مِنْ اَنْفُسِهِمْ	وَاَزْوَاجُهٗٓ	اُمَّهٰتُهُمْ ؕ	وَاُولُوا الْاَرْحَامِ	
دهغوئ دخپل ذات نه هم	او بښځې دنبی ﷺ	میندې دهغوئ دی	او خاوندان دخپلوئ	
نه هم زیات حق لری	.....اوددۀ بیبیانې دمسلمانانو میاندې دی		او خپل خپلوان	
بَعْضُهُمْ	اَوْلٰى	بِبَعْضٍ	فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ
خپلی ددوئ	زیات لائق دی	دځینو نورو سره	په کتاب دالله کښې	دمومنانونه
دالله ﷻ په کتاب کښې دنورو(عامو) مسلمانانو اومهاجرینو په مقابله کښې				
وَالْمُهٰجِرِيْنَ	اِلَّآ اَنْ	تَفْعَلُوْٓا اِلٰٓى اَوْلِيٰٓئِكُمْ		مَّعْرُوْفًا ؕ
اودمهاجرینو نه	مګر دا	چې اوکړی تاسو ددوستانو خپلوسره	څه احسان (ښیګړه)	
زیات تعلق لری	خو که تاسو خپلو دوستانو سره څه نیک سلوک کول غواړئ نو کولې شئ			
كَانَ ذٰلِكَ	فِي الْكِتٰبِ	مَسْطُوْرًا ۝		
دي دا حکم	په کتاب کښې	لیکلې شوې		
داخبره په لوح محفوظ کښې لیکلې شوې ده				

قوله تعالی:: اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ

د رسول الله ﷺ په خپل امت باندې مهربان کیدل:- الله تعالی رب العزت وحده لاشریك له ته علم دي چه حضوراکرم ﷺ په خپل امت باندې د خپلو ځانونونه هم زیات مهربان دي د دي دپاره ئی حضور ﷺ ته د هغوی د ځانونونه هم د زیات اختیار اوکړو. دادي د خپل ځان د پاره تجویز کوی نه بلکه د رسول الله ﷺ هرپوحکم په زړه او ځان سره قبول کړئی لکه چه فرمائی ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴾ (۳) ستاد رب تعالی قسم چه دا به مؤمنان نه وی ترکومې چه په خپل مینځ کښې په ټولو اختلافاتوکښې ستا حکم اونه منی. اوستاټولې فیصلې اوحکمونه په زړه اوخان په رونړتندی باندې قبول کړی. په صحیح حدیث مبارك کښې دی د هغه قسم د چا په لاس کښې چه زما ځان دي په تاسوکښې یوکس هم په ایمان نه شی کیدي ترکومې چه زه د هغه د پاره د هغه د نفس نه د هغه د مال نه د هغه د اولاد نه اود دنیاد ټولوخلقو نه زیات محبوب نه شم. (۴)

---

(۱) احمد:۱/۴۷، صحیح بخاری کتاب الحدود باب رجم الحبلی فی الزنااذا احصنت:۶۸۳۰.

(۲) صحیح مسلم کتاب الجنائز باب التشدید فی النیاحة: ۹۳۴، ابن ماجه:۱۵۸۱، احمد:۵/۳۴۲، مسندابی یعلی:۱۵۷۷،

(۳) ۴/النساء:۶۵.

(۴) صحیح بخاری کتاب الایمان باب حب الرسول ﷺ من الایمان:۱۵، صحیح مسلم:۴۴، مسندابی عوانه:۱/۳۳۰، احمد:۳/۱۷۷، ابن ماجه:۶۷، ابن حبان:۱۷۹، بدون ذکر(من نفسه).

Scanned with Ca

په یوبل حدیث کښې دی حضرت عمر ﷺ اوفرمائیل یارسول الله ﷺ تاسو ماته د ټول جهان نه خوښ ئی اوزما دخپل ځان نه. حضور ﷺ اوفرمائیل نه نه عمر ترکومې چه زه تاته ستادخپل ځان نه هم زیات محبوب نه شم. دې اوریدو سره فاروق اعظم ﷺ اوفرمائیل د سم دې په الله تعالی یارسول الله ﷺ اوس ته ماته د هریوځیز نه تردې چه زما دخپل ځان نه هم ډیرخوښ ئی. حضور ﷺ اوفرمائیل اوس ټیك ده. (۱) بخاری شریف کښې د دې آیت په تفسیرکښې دی حضور ﷺ فرمائی د ټولومؤمنانوزیات حقدار په دنیااوآخرت کښې پخپله د هغوی د خپلو ځانونونه هم زه زیات یم. که تاسو غواړئی نو اولولئی ﴿ اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ ۚ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ ۟ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰی بِبَعْضٍ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُهٰجِرِیْنَ اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤی اَوْلِیٰٓىِٕكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝﴾ (۲) واورئی کوم مسلمان چه مال پریږدی مړشی د هغه مال خود هغه د وارثانوحصه ده اوکه څوك مړشو اود هغه په ذمه باندې قرض وو اود هغه واړه واړه بال بچ وی نود هغه قرض زه ذمه وار یم اود هغه ماشومانوپالنه زما په ذمه ده. (۳)

قوله تعالی:: وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ

د ازواج مطهرات د میندو کیدو مطلب:: بیا فرمائی د رسول اکرم ﷺ بیبیانې مطهرات رضی الله عنهن حرمت او احترام کښې عزت اواکرام کښې بزرګئی اواعظام کښې په ټولومسلمانانوکښې داسې دی لکه پخپله د هغوی خپلې میندې. اود مور نور احکام مثلاً خلوت یا د هغوی د لونړو خویندو سره د نکاح حرمت دلته ثابت نه دی. بعضې علماؤ د هغوی لونړه هم د مسلمانانو خویندې لیکلې دی لکه چه امام شافعی رحمه الله په مختصرکښې نصاً فرمائیلی دی خودا دعبارت اطلاق دې نه چه دحکم اثبات.

حضرت معاویه ﷺ چه د یوې ام المؤمنین رور وو هغه ته ماما وئیلې شی که نه؟ په دې کښې اختلاف دې امام شافعی رحمه الله وئیلی دی چه وئیلې شی. پاتې شوه داخبره چه رسول الله ﷺ ته ابوالمؤمنین وئیلی شی کنه؟ داخیال ساتئی چه په ابوالمؤمنین کښې به مسلمانانې ښځې هم راشی په جمع مذکر سالم کښې په اعتبارد تغلیب مؤنث هم شامل دی. د ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمان دې چه نه شی وئیلې.

د امام شافعی رحمه الله په دوارو اقوالوکښې دټولونه صحیح قول هم دا دی. د ابی بن کعب اوحضرت ابن عباس ﷺ په قراءت کښې ﴿امهاتهم﴾ نه پس دا لفظ دې ((وهو اب لهم)) یعنی حضور ﷺ د هغوی پلار دی. د شافعی رحمه الله په مذهب کښې یوقول داهم دی اولږ شان تائیدد دې حدیث نه هم کیدې شی چه حضور ﷺ اوفرمائیل زه ستاسو د پاره د پلار په ځای یم زه تاسوته تعلیم درکوم. واورئی تاسو کښې چه کله څوك ډاودس ماتی د پاره لاړ شی نومه قبلې طرف ته مخ کوئی کینئی مه شاکوئی اونه په خپل ښی لاس باندې لوتې اخلئی اونه په ښی لاس باندې اودس کوئی. حضور ﷺ به د دریو لوتو اخستلو د پاره فرمائیل او په سوتو اوهلوکوباندې به ئی د استنجاء نه ممانعت فرمائیلو. (۴) (نسائی) دویم قول دا دې چه حضور ﷺ ته پلار مه وائې ځکه چه په قرآن مجیدکښې دی ﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ۝ ﴾(۵) حضوراکرم ﷺ په تاسو کښې د یوسړی هم پلارنه دی. بیافرمائی چه په نسبت د عامو مؤمنانو مهاجرین اوانصارود وراثت زیات حقدار خپلوان دی. د دې نه

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الایمان والنذور باب کیف کانت یمین النبی ﷺ:۶۶۳۲.
(۲) ۳۳/الاحزاب:۶.
(۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب ﴿النبی اولی بالمؤمنین من انفسهم﴾:۴۷۸۱، احمد:۲/۳۵۶.
(۴) ابوداؤد کتاب الطهارة باب کراهیة استقبال القبلة عندقضاء الحاجة:۸ وسنده حسن، نسائی:۴۰، ابن ماجه:۳۱۳.
(۵) ۳۳/الاحزاب:۴۰.

Scanned with Ca

وړاندې چه رسول الله ﷺ په مهاجرینو اوانصاروکښې کوم وخت رورولی قایم کړې وه هم د هغې په اعتبارسره به دوی دَ یوبل وارثان ګنړلې شو اوقسمونه خوړلو سره به ئې چه کوم دَ یو بل حلیف جوړشوې وو دوی به هم په خپل مینځ کښې وراثت تقسیم کولو دا دې آیت منسوخ کړو. اول به چه انصاری مړ شو نودَ هغه رشته داران به وارثان نه وو بلکه مهاجر به وو. دَ کوم په مینځ کښې چه دَ الله تعالی رسول ﷺرورولی قایمه کړې وه. (۱) دَ حضرت زبیربن عوام ﷺ بیان دې چه داحکم خاص زمونږ دَ مهاجرو اوانصارو باره کښې نازل شوې دې. مونږ چه کله مکه معظمه پریخوده اومدینې ته راغلو نومونږ سره هیڅ هم نه وو دلته په راتلوسره مونږانصارو سره رور ولی اوکړه. دوی دیر بهترین رونړه ثابت شو تردې چه دَ مرګ نه پس به دَ هغوی دَ مال وارثان هم مونږ وو. دَحضرت ابوبکر ﷺ رورولی حضرت خارجه بن زید ﷺ سره وه. دَ حضرت عمر ﷺ فلانکی سره. د حضرت عثمان ﷺ یوزرقی سړی سره وه. پخپله زما دَ حضرت کعب بن مالك ﷺ سره. دې زخمی شو اودا زخم هم ژوړ وو که هغه وخت دَ هغه وفات کیدلو نوړه به هم دَ هغه وارث جوړشوې ووم. بیا دا آیت نازل شو اودَ میراث عام حکم زمونږ د پاره هم شو. (۲) بیافرمائی چه وراثت خودَ هغوی نه دې خوکه هسې تاسو دې خپلو مخلصانو دوستانوسره ښه سلوك کول غواړئ نوتاسو ته اختیار دې چه دَ وصیت په توګه هغه له څه ورکولې اخستلې شې. بیافرمائی چه دَ الله تعالی داحکم په دې کتاب کښې دَ اول نه لیکلې شوې وو په کوم کښې چه څه بدلون وغیره نه دی شوې. په مینځ کښې چه په رور ولئی کومه ورثه تقسیم کولې شوه داصرف دَ یوخاص مصلحت لاندې دَ یوخاص وخته پورې وو اوس دا اخواکړې شو اواصلی حکم ورکړې شو. والله اعلم.

وَاِذْ	اَخَذْنَا
او یاده کړه کله چې	واغیسته مونږه
او هغه وخت چې مونږ دټولو پیغمبرانو	
مِنَ النَّبِيّٖنَ	مِيْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى
دټولو پیغمبرانونه	وعده دهغوئ او ستا نه (هم) او نوح نه او دابراهیم نه او دموسی نه
نه وعده واخسته	.....او ستا نه هم او د نوح ﷺ او ابراهیم ﷺ او دموسی ﷺ
وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ	وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۙ
او دعیسی څوئ دمریم نه	او واغسته مونږه دهغوئ نه وعده پخه محکمه
او عیسی څوئ دمریم ﷺ نه هم	اوددې ټولو نه موښه پوخ لوظ واخستلو.
لِّيَسْـَٔلَ	الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ
دپاره ددې چې پوښتنه اوکړې	درښتنو خلقو نه په باره دصدق دهغوئ کښې او تیار کړې دې الله
چې الله ﷻ د ریښتونو خلقو نه د هغوی د رښتیاؤ په حق کښې تپوس اوکړې	.....او د کافرانو

(۱) صحیح بخاری کتاب الفرائض باب ذوی الارحام:٦٧٤٧.

(۲) حاکم:٤/٣٤٤-٣٤٥.

لِلْكٰفِرِيْنَ	عَذَابًا	اَلِيْمًا ۝۸
دپاره دکافرانو	عذاب	درد ناک
دپاره ئې دردناک عذاب تیار کړې دې		

قوله تعالیٰ:: وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ

د اولولعزم پیغمبرانو علیهم السلام اونورو انبیاء کرامو نه عهد:- فرمائی چه د دې پنځو اولوالعزم پیغمبرانو علیهم السلام نه اود عام انبیاء کرامو نه مونږ دې ټولونه عهداووعده اخستې وه چه هغوی به زما د دین تبلیغ کوی په دې باندې به قایم وی په خپل مینځ کښې به د یوبل امداد اوتائید کوی. اتفاق او اتحاد به ساتی هم د دې وعدې ذکر په دې ایت کښې دې ﴿ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِىْ ؕ قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ۝﴾ (۱) یعنی الله تعالی د نبی ﷺ نه قول او اقرار واخستو چه کوم کتاب اوحکمت تاله درکړم اوادې لیکم اوبیا ستاسره د کړې شوی څیز تصدیق کونکې رسول الله ﷺ راشی نوتاسوضرور په هغه باندې ایمان راوړئی اود هغه امداد کوئی. اووایئی چه ستاسو د دې اقرار شته؟ اوزما په وړاندې ددې کلکه وعده کوئی؟ ټولو جواب ورکړو اوزمونږ اقرار دې الله تعالی اوفرمائیل بس اوس گواه اوسیږی اوزه پخپله تاسو سره گواه یم. دلته ئی د عامو پیغمبرانو ذکر کولو سره د خاص او جلیل القدر پیغمبرانو نومونه ئی واخستل. دغه شان د هغوی نومونه په دې آیت کښې ﴿ شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ ؕ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ؕ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ۝﴾ (۲) دلته د حضرت نوح ﷺ ذکر دې چه په زمکه باندې د الله تعالیٰ پینغمبروو. د حضرت محمد ﷺ ذکردې چه د ټولونه آخری پیغمبروو اود حضرت ابراهیم ﷺ موسی ﷺ اوحضرت عیسی ﷺ ذکر دې. کوم چه درمیانه (مینځنی) پیغمبروو. په دې کښې یولطافت دا دې چه د اول پیغمبر حضرت آدم ﷺ نه پس پیغمبر حضرت نوح ذکر دې اود آخر پیغمبر حضرت محمد ﷺ نه اول پیغمبر حضرت عیسی ﷺ ذکر اوکړو اود مینځ پیغمبرانونه حضرت ابراهیم ﷺ اوحضرت موسی ﷺ ذکر اوکړو. دلته خو ئی دا ترتیب کیخودو چه د فاتح اوخاتم ذکر کولوسره د مینځ د انبیاء کرامو بیان اوشو اوپه دې آیت کښې د ټولونه اول د حضرت خاتم النبیین ﷺ نوم واخستلې شو. ځکه چه د ټولونه اشرف اوغوره هم هغوی دی. بیا وار په وار څنګه چه راغلی دی هغه شان په ترتیب سره ئی بیان کړل. الله تعالی دې په خپلو ټولوانبیاوٗکرامو علیهم السلام باندې درود اوسلام نازل کړی.

د دې آیت په تفسیرکښې د حضور ﷺ فرمان دې د پیدائش په اعتبارسره زه دټولوانبیاء کرامو نه اول یم اودنیاته د راتلوپه اعتبارسره د ټولونه آخری یم. نوهم زمانه ئی شروع کړې ده. داحدیث په ابن ابی حاتم کښې دې خود دې یوراوی سعیدبن بشیر ضعیف دې او په سندسره دامرسل روایت دې اوهم دا ډیر مشابهت لری. اوبعضو دا موقوف روایت کړې دې. والله اعلم. حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی د حضرت آدم ﷺ په اولاد کښې الله تعالی ته د ټولونه زیات گران اوخوښ پنځه پیغمبران دی. حضرت نوح ﷺ حضرت ابراهیم ﷺ حضرت موسی ﷺ حضرت عیسی ﷺ اوحضرت محمد ﷺ. په دې کښې

(۱) ۳/آل عمران: ۸۱.
(۲) ۴۲/الشوری: ۱۳.

Scanned with Ca

یوراوی حمزه ضعیف دي داهم ونیلي شوی دی په دي ایت کښې چه کوم عهد اومیثاق ذکردي دا هغه دي چه د ازل په ورځ د حضرت آدم ﷺ د شانه ټول انسانان راویستلي وو اخستي شوي وو. د حضرت ابی بن کعب ﷺ نه روایت دي حضرت آدم ﷺ اوچت کړي شو هغوی خپل اولاد اوکتلو په هغوی کښې مالدار غریب ښائسته اوهرقسم خلق اولیدل نوونی ونیل ای الله څومره به ښه وه چه دا ټول تا یوشان برابرساتلي وي. الله تعالی ﷻ اوفرمائیل چه دا په دي وجه دی چه زما شکر اداکړي شی. په دوی کښې چه کوم پیغمبران علیهم السلام وو حضرت آدم ﷺ هغوی هم اولیدل هغوی د نور په شان پرقیدل په هغوی باندي نور وریدلو د هغوی نه د نبوت او رسالت یوخاص وعده اخستي شوي وه. د کوم بیان چه په دي آیت کښې دي. د صادقون نه د هغوی د صدق سوال وی یعنی دهغوی نه چه کوم احادیث رسول الله ﷺ رارسولي وو. (۱) دهغوی د امتونونه چه کومو هم هغوی نه دی منلی هغوی ته به سخت عذاب وی. ای الله ته ګواه اوسه زمونږ ګواهی ده مونږ په زړه سره منوچه بې شکه ستا رسولانو ستا پیغام ستا بندیګانوته بغیرد څه کمی زیاتی رسولي دي. هغوی پوره خیرخواهی کړي ده اوحق ئی په صفا توګه ښه په ښکاره طریقه سره واضح کړي دي. په کوم کښې چه څه هیڅ پټ پناه یاد څه قسم شك پاتي نه شو. اوبدنصیبه ضدی اوجنګالیانو خلقو اونه منل. زمونږ ایمان دي چه ستا د ټولو رسولانو ټولې خبرې حق او رښتیا دی اوکومو خلقو چه د دوی لار اونه نیوله هغوی ګمراه او باطل دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ	ءَامَنُواْ	ٱذْكُرُواْ		
ای هغه کسانو	چې ایمان مو راوړي دي	یاد کړئ		
ائې ایمان والو	! دالله ﷻ احسان	یاد کړئی		
نِعْمَةَ ٱللَّهِ	عَلَيْكُمْ	إِذْ جَآءَتْكُمْ	جُنُودٌ	
نعمت (احسان) دالله	چې کړې ئې دي په تاسو باندې	کله چې راغلي تاسو ته	لښکرې	
څه وخت چې د(غزوه خندق په موقع) په تاسو باندې ډیر لښکرې راوختلې				
فَأَرْسَلْنَا	عَلَيْهِمْ	رِيحًا	وَجُنُودًا	لَّمْ تَرَوْهَا ۚ	وَكَانَ ٱللَّهُ
پس اولیږل مونږه	په هغوئ باندې	سیلئ	او لښکرې	چې نه لیدلې تاسو هغه	او دي الله
نومونږ پرې یوه سیلئ راوستله	اوداسې (غیبی) لښکرې مو راولیږلې	چې تاسو نه لیدلې	اوتاسوچې		
بِمَا	تَعْمَلُونَ	بَصِيرًا ۝	إِذْ	جَآءُوكُمْ	
په هغه کارونو	چې کوئ ئې تاسو	لیدونکې	کله چې	راغلل هغوئ په تاسو	
څه کول هغه الله تعالی لیدل	څه وخت چې هغوئ ستاسونه د پورته طرف نه اوستاسو دلاندې طرفنه				
مِّن فَوْقِكُمْ	وَمِنْ أَسْفَلَ	مِنكُمْ	وَإِذْ	زَاغَتِ	ٱلْأَبْصَٰرُ
دپاس طرف ستاسو نه	او دښکته طرف	ستاسو نه	او کله چې	خړ شو	نظر دسترګو
په تاسو راوختل	او(له ویرې نه) ستاسوسترګې بوتې راوتې وي.				

(۱) الطبری: ۲۱٤/۲۰.

وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا۝
اوورسيدل | زړونه | چنغړ کونوته | او ګمانونه اوکړل تاسو | په الله | قسماقسم ګمانونه |
او زړونه مو خلې ته راغلې وو | اوتاسو په الله ﷻ باندې رنګ رنګ ګمانونه کول

قوله تعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

په جنګ خندق کښې د الله تعالی د نصرت نازليدل:- جنګ خندق چه په ۵هجری د شوال په مياشت کښې شوې وو الله تعالی چه په خپلو مؤمنانوباندې کوم خپل فضل او احسان کړې وو دهغې بيان کولې شی. مشرکانو په پوره طاقت او پوره يوموټی والی سره د مسلمانانود ختمولو په اراده يوزبردست لښکر سره حمله کړې وه. بعضې خلق وائی جنګ خندق په ۴ هجری کښې شوې وو. (۱)

دجنګ خندق قصه: د دې جنګ قصه داسې ده چه د بنونضير ديهوديانو سردارانو په کوموکښې چه سلام بن ابی حقيق، سلام بن مشکم، کنانه بن ربيع وغيره وو مکې ته راغله اوقريشو ته ئی چه د اول نه تيارووحضورﷺ سره د جنګ د پاره په تيارو باندې راضی کړل اوهغوی سره ئی وعده اوکړه چه مونږ به دخپل اثر لاندې خلقو سره ستاسو په ډله کښې شامل يو. د دوی راضی کولونه پس داخلق د قبيله غطفان خلقو سره سازباز کولو سره خان سره شامل کړل. قريشو هم اخواديخواګرځيدوسره په تولوعربوکښې اُور اولګولو اوتول ګډوډخلق ئی خان سره يوخای کړل ددوی تولو سردار ابوسفيان بن صخر بن حرب جوړشو اود غطفان سردار عيينه بن حصن بن بدر مقرر شو. دې خلقو کوشش اوکړو د لسو زرو لښکرئی تيارکړو اومدينې طرف ته لاړل. حضورﷺ ته چه کله د دې لښکر کشئی پته اولګيده.

خندق د سلمان فارسی ؓ په مشوره کنستلې شوې وو: نوحضورﷺ د سلمان فارسی ؓ په مشوره سره د مدينې په مشرقی طرف کښې خندق يعنی ژوره کنده اوکړه. ددې خندق په کنستلوکښې تولوصحابه کرامورضی اللہ عنہم مهاجرين اوانصارشامل وو او پخپله به حضور پرنور ﷺ بذات اقدس حصه اخستله په کنستلوکښې هم او په خاوره ويستلوکښې هم.

کافرانو د احد د غر سره پراؤ واچولو: د مشرکانو لښکر بغير د څه مقابلې مدينې منورې ته راورسيدو او د مدينې په مشرقی حصه کښې د احد غر سره ئی خپله ډيره واچوله اولاندې باندې ئی مسلمانان راګيرکړل. حضورﷺ د خپل ملګرو صحابه کرامو چه تقريبا دری زره به وو اوپه بعضې روايتوکښې صرف اووه سوه وو واخستل اود مقابلې د پاره روان شو. سلع غرحضورﷺ خپلې شاته کړو اود دښمنانوطرف ته متوجه کيدو سره ئی فوځ په ترتيب کړو. خندق چه کوم حضورﷺ کنستلې وو او په نورو صحابه کرامو ئی کنستلی وو په هغې کښې اوبه وغيره نه وې هغه صرف يوه کنده وه چه مشرکان ئی بغير د بنديدلونه نه پريخودل. حضورﷺ ماشومان اوښځې د مدينې يومحله کښې کړې وو.

مدينه منوره کښې بنو قريظه هم معاهده ماته کړه: د يهوديانو يوجماعت بنوقريظه په مدينه طيبه کښې وو. د مشرق طرف ته دهغوی محله وه. د نبی کريم ﷺ سره د هغوی صلح مضبوطه وه. د هغوی لويه ډله وه. تقريبا اته سوه کسان جنګيالان سړی په هغوی کښې د جنګ قابل وو. مشرکانو او يهوديانو هغوی له حيی بن اخطب نضری راوليګلو. هغوی دوی هم په شيشه کښې کوزکړل اوشنه باغونه ئی ورته اوخودل اوخان سره ئی کړل اوهغوی هم په عين وخت کښې مسلمانانوسره بې وعده ګی اوکړه او په بښکاره ئی صلح ماته کړه. د بهر نه د لسو زرو لښکر چه راغلې دی پراته دی د دننه نه د دې يهوديانوبغاوت چه د ترخ د دانې په شان راووتله. مسلمانان د دوديرشو غابنونو په مينځ کښې د ژبې اويا په اوړو کښې د

---

(۱) صحيح بخاری کتاب المغازی باب غزوة الخندق قبل حديث:۴۰۹۷.

Scanned with Ca

مالګي برابر غوندي پاتي شو. دې ټولو اووه سوو کسانوکولې څه شو. داهغه وخت وو د کوم نقشه چه قرآن پاک رابنکلې ده چه سترګې حیرانې شوې زړونه اولټه شو قسم قسم خیالونه ورته راتلل په کش مکش کښې شو او په سخت امتحان کښې راګیرکړې شو. د پوره میاشتې پورې د دې ګیرې اچولوسخت تریخ صورت وو.

د مشرکانوخودومره طاقت اونه شو چه په خندق باندې راتیرشوې وې او لاس په لاس ئې جنګ کړې وې خو ګیره ئې اچولې وه اومسلمانان ئې تنګ کړل. البته عمرو بن عبدود عامری چه د عربومشهور تکړه پهلوان وو اود سپه سالارئې په هنرکښې ښه بې مثاله وو دې سره ښه بهادر او طاقتور وو یوځل ئې همت اوکړو اوخپل ځان سره یوځو نور پهلوانان یوځای کړل او خندق سره ئې خپل اسونه راوستل. د دې حال په کتوسره رسول الله ﷺ خپلو سورو ته اشاره اوکړه خودا وئیلی شی د هغوی د نه تیاری په وجه حضور ﷺ حضرت علی ﷺ ته حکم اوکړو چه ته د دوی په مقابله کښې وراوځه. د لږ ساعت پورې خو په دواړو بهادرانوکښې توره چلیدله خو آخر شیرخدا د کفر دیو د تیغ نه اوویستلو په کوم سره چه مسلمانان ډیر خوشحاله شو هغوی اوګنړله چه فتح به هم زمونږ وی.

اخر تیزه هوا راغله چې هغې ته بادصبا وئیلې شی: الله رب العزت هغه تیزه او تنده هوا راولیګله چه د مشرکانو ټولې خیمې د بیخه اووتلې هیڅ یوځیز په طریقه باندې پاتې نه شو داُور لګول ګران شو د پناه هیڅ ځای نه ښکاریدو. آخر تنګ شو او په نامردئی سره واپس شو د کوم بیان چه په دې آیت کښې دې. د کومې هوا چه په دې آیت کښې ذکر دې د مجاهد رحمه الله په قول کښې داصبا ده اود دې تائیدد حضور ﷺ د دې حدیث نه هم کیږی. ماته د صبا په هوا سره امداد راکړې شوې دې اوعادیان په ډبور هواګانو سره هلاک کړې شوې وو. (۱) عکرمه رحمه الله فرمائی جنوبی هوا شمالی هوا ته په دې جنګ احزاب کښې اووئیل چه مونږ او تاسو ځو د رسول الله ﷺ امدادکوو نو شمالی هواووئیل چه ګرمی د شپې نه چلیږی بیا په دوی باندې د صباهوا راولیګلې شوه. حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی زه خپل ماما حضرت عثمان بن مظعون ﷺ د خندق په شپه په سخته یخنئی اوتیزه هواکښې مدینې منورې ته اولیګلم چه خوراک اوبستره راوړه. ماد حضور ﷺ نه اجازت اوغوښتو نوحضور ﷺ اجازت راکړو اوارشاد ئې اوفرمانیلو چه زما کوم صحابی ﷺ ملاوشی نوهغوی ته وایه چه ماله راشی. اوس زه لاړم اوهوا ډیره تیزه اوشور سره روانه وه ماته چه کوم یومسلمان ملاوشو هغه ته مې د رسول الله ﷺ پیغام اورسولو اوچه چاهم واوریدو په اولټه پښوسره ډیر زر د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشو تردې چه په دوی کښې چاشاته هم اونه کتل. هوازما ډال دیکه کولواوهغه ماسره لګیدلو تردې چه دهغې اوسپنه زما په پښیه باندې راپریوتله کومه چه ما لاندې اوغورزوله.

هوا سره فرشتې هم راغلې :: دې هواسره سره الله تعالی فرښتې هم نازلې کړې وې کوم چه د مشرکانو زړونه سینې د ویرې اورعب نه ډکې کړې تردې چه د لښکر څومره سرداران وو خپل ماتحتان سپاهیان ئې خان ته راوغوښتل اووئی وئیل د خلاصی څه صورت اوګورئی د بچ کیدو څه انتظام اوکړئی. دا ود د فرښتو اچولې شوې ویره او رعب اوهم دا هغه لښکر دې د کوم ذکر چه په دې آیت کښې دې چه دالښکرخو تاسونه دې لیدلې. حضرت حذیفه بن یمان ﷺ ته د یوخوان سړی چه د کوفې اوسیدونکې وواوئیل اې ابوعبدالله تاسو ډیر خوش نصیب ئی تاسو دالله تعالی رسول ﷺ اولیدلو اود حضور ﷺ په مجلس کښې ناست وی نواوښایه چه تاسو به څه کول؟ حضرت حذیفه ﷺ وئیل والله مونږ به خپل ځان قربانی کولو. هغه خوان وئیل چه تره ګوره که مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو نووالله د هغوی قدم به مو هم په زمکه نه کیخودو په خپلو اوږو باندې به مو بوتلو. هغه اوفرمائیل وراره ګوره یوه

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة الخندق وهی الاحزاب:٤١٠٥، صحیح مسلم:٩٠٠.

Scanned with Ca

واقعه واوره. د جنګ خندق په موقعه باندې حضور ﷺ د شپې ډیر زیات مونځ کولو چه فارغ شونو معلومه نې کړه چه څوک شته چه لاړشی اودَ کافرانودَ لښکر خبرراوړی؟ دَ الله تعالی نبی ﷺ په دې سره شرط اولګولوچه هغه به جنت ته ځی. هیڅ څوک اونه دریدل ځکه چه دَ ویرې یخننی اواولګي انتهاء وه. بیا حضور ﷺ ډیر وخت پورې مونځ اوکړو بیائی اوفرمائیل ه شته څوک چه لاړشی اودَ کافرانو خبر راوړی چه هغوی څه څه کړی دی؟ د الله تعالی رسول ﷺ هعه مطمئن کوی چه هغه به خامخاواپس راځی اوزما دعاده چه الله تعالی دې هغه ماسره په جنت کښې ملګرې کړی. دې ځل هم څوک اونه دریدو او اودریدوبه څنګه؟ دَ اولګي په وجه نې خیټه ملا سره یوځای شوې وه د یخننی په وجه نې غابنونه کړپیدل دَ ویرې په وجه نې اینې ویلې کیدې آخر نې زما نوم واخستو اورسول الله ﷺ آواز راکړو اوس خو بغیرد اودریدو څه بله لار نه وه. وئی فرمائیل حذیفه ته لاړشه اوګوره چه هغوی دې وخت کښې څه کوی؟ ګوره ترکومې چه زما خواله واپس نه نې راغلې بل څه نوې کار مه کوه. ما ډیر ښه اووئیل او په خپله لار روان شوم اوپه بهادرئی سره مشرکانو کښې ورننوتلم هلته په تلو سره عجیبه حال وونه ښکاریدونکې دَ الله تعالی لښکر خپل کارپه تیزئی سره کولودَ نغرونه دیګونه هواوچت کړل دَ خیمو لرګی راوتلې دی اُور لګولې نه شی هیڅ یوځیز په خپل ځای پاتې نه شو.

دابو سفیان اعلانونه: هغه وخت ابوسفیان اودریدو اوپه اوچت آواز نې اعلان اوکړو اې قریشو دَ خپل خپل ملګری نه هوښیارشئی خپل ملګرې اوګورئی داسې نه چه څوک پردې ولاړوی. مادې اوردو سره چه ماسره یوقریشی ځوان وو د هغه لاس مې اونیولو اوتپوس مې تري اوکړوته څوک نې؟ هغه وئیل چه زه فلانکې ځوئ دَ فلانکی یم. ماوئیل چه اوس هوښیار اوسیږه.

ابوسفیان وئیل قریشو په خدائې قسم مونږ دې وخت کښې د څه حصاریدو په ځای کښې نه یو زمونږ څاروی اوښان هلاک کیږی. بنوقریظه مونږ سره وعده خلافی اوکړه هغوی مونږ ته سخت تکلیف راورسولو.بیادې هوا خو مونږ پریشانه کړې یو مونږ خو پوخ ځیز خوړلې نه شو. اُور نه شو بلولې خیمې په ځای نه اودریږی. زه خو تنګ شوې یم ما خواراده کړې ده چه واپس لاړشو. نوزه تاسو ټولوته حکم درکوم چه واپس شئی. دومره وینا کولوسره په خپل اوښ چه په څلوربولی ناست وو وراوختلو هغه نې اووهلو اوپه دریوپښوباندې اودریدو بیائی د هغه پښه کولاوکړه. هغه وخت دومره ښه موقعه وه چه که ما غوښتل نو ابوسفیان مې په یوغشی باندې ختمولې شو. خورسول الله ﷺ ماته وئیلې وو چه هیڅ یونوې کار به نه کوې. په دې وجه ما خپل زړه رامنع کړو اوس زه واپس راغلم اوخپل لښکر کښې شامل شوم کله چه زه راورسیدم اومې کتل نو رسول الله ﷺ یوځادراغوستې کوم چه د هغوی د یوې بې بې وو اوپه مانځه کښې مشغول وو. حضور ﷺ زه اولیدم اودَ دواړو پښو په مینځ کښې نې کینولم اوځادر نې په ماباندې هم واچولو.بیائی رکوع اوسجده اوکړه اوما ځادر اغوستې وو ناست ووم کله چه حضور ﷺ فارغ شو نوما ټوله واقعه بیان کړه. دَ قریشو دَ واپس کیدو خبر چه کله غطفان ته اورسیدو نوهغوی هم سامان اوترلواوواپس لاړل. یوبل روایت کښې دی چه حضرت حذیفه ﷺ فرمائی چه زه کله لاړم نو سره دَ کړنګیدلې یخننی په الله تعالی باندې قسم دې چه ماته داسې ښکاریده لکه چه زه په ګرم حمام کښې یم. هغه وخت ابوسفیان اُور لګولې ګرمیدو ما هغه اوکتلو اومې پیژندلو خپل غشي مې په لیندې سور کړو اوغوښتل مې چه ورخوشې کړم اوهغه بالکل زما په نښه کښې وو ناممکن وه چه زمانښه خطا شوې وه ولې ماته د رسول الله ﷺ دا فرمان رایاد شوځه داسې حرکت مه کوه چه هغوی رابیدار شی او پوهه شی. نوماخپله اراده پریخوده. کله چه زه واپس راغلم نوهغه وخت هم ما څه یخنی محسوس نه کړه بلکه داسې معلومیدله لکه چه زه په حمام کښې روان یم. کله چه حضور ﷺ ته اورسیدم نو ډیره زیاته یخنی مې اوشوه زه رڅیدم نوحضور ﷺ خپل څادر په ماواچولو زه سملاستم نو خوب راغلو اوترسحره پورې اوده شوم سحر پخپله حضور ﷺ دې فرمائیلوسره رابیدارکړم اې اوده

کیدونکیه راپاسه. (۱) یوبل روایت کښې دی چه کله دې تابعی رحمه الله اووئیل افسوس چه مونږ رسول الله ﷺ لیدلې وې اودَ هغه په زمانه کښې وو. نوحضرت حذیفه ﷺ وئیل چه افسوس ستاسوپه شان ایمان زمونږ هم وې چه سره دَ نه لیدلو پخه اوکلکه عقیده لرئی. وراره کومه تمناچه تاسو کوئی نوداهم صرف تمنا ده نه ده معلومه چه تاسو به څه کول؟ په مونږ خوداسې سخت وخت راغلې دې دې وینا کولوسره هغوی بیا دا دَ خندق دَ شپې پورته بیان شوې واقعه بیان کړه. دې کښې داهم دی چه هواسره سره سیلنی اوباران هم وو. یوبل روایت کښې دی چه حضرت حذیفه ﷺ د حضور ﷺسره خپل واقعات بیانول نوپه مجلس کښې ناستو کسانووئیل چه که مونږ موجود وې نو داسې به مو کول او داسې به موکول. په دې باندې هغوی داواقعه بیان کړه. چه دَبهر نه دَ لسو زرو لښکرراګیرکړی وو دَ دننه نه دَ بنو قریظه اتوسوویهودیانو لښکر پریشانه کړی وو بال بچ په مدینه طیبه کښې وو. خطره لګیدلې ده که بنوقریظه دې طرف ته مخ کړو نو په یوساعت کښې به دَ ماشومانو اوښځو فیصله اوکړی. والله دَ دې په شان دَ ویرې شپه اوداسې حالت په مونږ چرته نه وو تیرشوې. بیا هغه هواګانې روانې دی هغه سیلنی ده نبه تیاره ده ګرارې بجلی او تندر راپریوځی چه الله تعالی دې حفاظت اوکړی. دَ ده ملګری کتل چرته دی؟ خپلې ګوتې به هم نه ښکاریدې. کوم منافقان چه مونږ سره هغوی یو په یو دې بهانوجوړولوسره چه زمونږ بال بچ ټول هلته دې اودَ کور ساتندونکې هیڅ څوک نشته. حضور ﷺ له راتلل اواجازت به ئې اخستلو اوحضور ﷺ هم یوکس هم منع نه کړو چاچه وئیل زه لاړشم حضور ﷺ به فرمانیل په شوق سره څه. یویوشواوخوئیدل اومونږ صرف درې سوه پاتې شو. حضور ﷺ تشریف راوړو یویو ئې اوکتلو اوزما عجیبه حال وو نه ماسره دَ دښمن نه دَ بچ کیدو څه وسله شته اونه دَ یخنئی نه دَ بچ کیدو څه کیږه. صرف زما دَ ښځې یو وړوکې غوندې څادر وو چه زما زنګنونوته هم نه رسیدلو. کله چه حضور ﷺ ماله راغلو نو هغه وخت ما په خپلو زنګنونوکښې سرور کړې تیت ناست ووم او رپیدلم. حضور ﷺ تپوس اوکړو داخوک دې؟ ماوئیل حذیفه. وئې فرمانیل حذیفه واوره والله په ماخوزمکه تنګه شوه چه هسې نه دَ اودریدو راته اووائی زه خو ډیر خراب یم خوکولې مې څه شو دَ حضور ﷺ فرمان وو ما وئیل حضوراکرم ﷺ اورم ارشاد؟ حضور ﷺ اوفرمانیل په دښمنانوکښې یوه نوې خبره کیدونکې ده لاړشه دهغې خبر راوړه. والله په هغه وخت کښې زما نه دَ چازیاته ویره نه وه نه یخنی وه. خودحضور ﷺ حکم اوریدوسره اودریدم اوروان شوم ماواوریدل چه حضور ﷺ ماته دعاکوله اودې دعاسره ماواوکتل چه زما په زړه کښې هیڅ ویره اوخطره نه وه. بیا حضور نبی کریم ﷺ ماته آواز راکړو وئی فرمانیل ګوره حذیفه ماته دَ واپس راتلوپورې هلته څه نوې کار اونه کړې. په دې روایت کښې داهم دی چه ما ابوسفیان اول نه پیژندلو. زه لاړم نوهلته هم دا آوازونه کیدل څئی واپس لاړشئی. ما یوه عجیبه خبره داهم اوکتله چه هغه خطرناکه هوا چه دیګونه ئې اړول هغه صرف دَ هغوی دلښکرپورې وه والله د هغوی نه یولیښت هم بهر نه وه. ما اوکتل چه کانړی په الوتو الوتو په هغوی راپریوتل.

حذیفه فرشتې اولیدې: کله چه واپس لاړم نوما اوکتل چه تقریبا شل سواره دی چه پټکی وهلی دی هغوی ماته اووئیل زه لاړشه اورسول الله ﷺ ته خبرورکړه الله تعالی تاسوته کامیابی درکړه او ستا دښمنانوته ئې ماتې ورکړه. په دې کښې داهم دی چه دَ نبی کریم ﷺ په عادت مبارک کښې داهم داخل وو چه کله به هم دَ ویرې اومشکل وخت وو نوهغوی به مونځ شروع کولو کله چه ما حضور ﷺ ته داخبر ورکړو نوهم هغه وخت دا آیت نازل شو. نو په آیت کښې دَ لاندې طرف نه دَ راتلونه مراد بنوقریظه دی دسختې ویرې اوګبراهټ په وجه ئې سترګې اولټه شوې وې اوزړونه ئې خُلې له راغلی وو اوقسم قسم ګمانونه کیدل. تردې چه بعضې منافقانو خو وئیل چه په دې اوس جنګ کښې به کافر غالب راځی. نودَ عامو

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الجهاد باب غزوة الاحزاب:۱۷۸۸، ابن حبان:۷۱۲۵، دلائل النبوة:۳/۴۴۹.

Scanned with Ca

منافقانوبه څه تپوس کوي؟ معتب بن قشير وئيل حضور ﷺ خو مونږ ته وئيل چه تاسو به د قيصر اوکسرى د خزانو مالکان جوړيږئ اودلته داحالت دي چه متيازو له تلل هم سخت دى. دامختلف کمانونه د مختلف خلق وو اومسلمانانوخو يقين کولوچه غلبه به هم زمونږ وى لکه چه فرمان دي ﴿ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۫ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّاۤ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ؕ ﴾ (۱) خو منافقينوبه وئيل چه دي خل خو به په يوځل تول مسلمانان سره د حضور ﷺ (نعوذبالله) لکه د ګاځرو مولو پرې کړي شي. صحابه کرامو رضی اللہ عنہم بالکل د دي ويرې اوپريشانئ په حالت کښې رسول الله ﷺ ته وئيلې ووحضور ﷺ دي وخت کښې مونږ ته د دي نه بچ کيدو څه دعا اوښائ حضور ﷺ اوفرمائيل دادعاوائي ((اللهم استرعورتنا وامن روعاتنا)) يا الله زمونږ پرده اوساتي يا الله زمونږ ويره او خطره په امن سره بدله کړي. ديخوا د مسلمانانودا دعاګاني راوچتې شوې اواخواد رب لښکرې دهواپه شکل کښې راغلې اوکافران ئې پانړې پانړې کړل.(۲) فالحمدلله.

هُنَالِكَ	ابْتُلِيَ	الْمُؤْمِنُوْنَ	وَزُلْزِلُوْا	زِلْزَالًا شَدِيْدًا ﴿۱۱﴾
په دغه وخت کښې	وآزمائيلې شو	مومنان	اواوجړقولې شو	په جړقولو سختو سره
په دغه موقع د مسلمانانو پوره امتحان واخستې شو			او په زوره زوره اوجړقولې شو	
وَاِذْ	يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	فِيْ قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ
او ياد کړه کله چې	وئيل	منافقانو	او هغه کسانو	چې په زړونو دهغوئ کښې
اوڅه وخت چې منافقانو اوهغه کسانو چې په زړونو کښې ئې بيماري وه				
مَّا وَعَدَنَا	اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗۤ	اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲﴾	وَاِذْ	قَالَتْ
چې وعده نه ده کړې زمونږ سره	الله	او رسول دهغه	مګر ددوکې	او کله چې	اووئيل
چې مونږ سره خو الله ﷻ او د هغه رسول د دهوکې وعده کړې وه					
طَّآئِفَةٌ	مِّنْهُمْ	يٰۤاَهْلَ يَثْرِبَ	لَا مُقَامَ	لَكُمْ	فَارْجِعُوْا ۚ
يوې ډلې	دهغوئ نه	اے د يثرب (مدينې) خلقو	نشته هيڅ ځائې	تاسو لره	نوواپس شئ
اووئيل	ائې دمدينې خلقو	تاسو (د دښمن مقابلې ته) نشئ ټينګيدې			نوواپس لاړشئ
وَيَسْتَاْذِنُ	فَرِيْقٌ	مِّنْهُمُ	النَّبِيَّ	يَقُوْلُوْنَ	اِنَّ بُيُوْتَنَا
او اجازت غواړي	يوه ډله	دهغوئ نه	دنبي ﷺ نه	وائي هغوئ	کورونه زمونږ
اويوډلې د (پيغمبر نه) نه د واپس تلو اجازت غوښتلو			..... دائې اووئيل چې زمونږ کورونه په		
عَوْرَةٌ ؕ	وَمَا هِيَ	بِعَوْرَةٍ ۚ	اِنْ يُّرِيْدُوْنَ	اِلَّا	فِرَارًا ﴿۱۳﴾
غير محفوظ دي	حال دا چې نه دي هغه	غير محفوظ	نه لري اراده دوئ	مګر	دتيښتې
ډاګه پراته دي	حالانکه هغه په ډاګه نه وو		خو دوئ صرف د تيښتې لار کتله		

(۱) ۳۳/الاحزاب:۲۲.
(۲) احمد: ۳/۳ ح ۱۹۹۶۰۱

قوله تعالى:: وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ

د منافقانو د جنګ د میدان نه تیخته:- د ویرې اوپریشانئ داحال بیانولې شی کوم چه د جنګ احزاب په موقعه باندې مسلمانانوته وو چه دبهر نه دښمن په پوره لښکرو سره ګیره اچولې ولاړ دې. دننه په ښار کښې د بغاوت اُورلګیدلې دې. یهودیانوناڅاپی صلح ماته کړه او بې آرامی پیداکړه. مسلمانان دَخوراك ځښاك د ځیزونو پورې تنګ شو. منافقان ښه په ښکاره جداکیدل. د کمزورې زړه والا خلقو قسم قسم خبرې جوړولې. وئیل چه بس د الله تعالى د رسول ﷺ وعدې مو اوکتلې. څه خلق دی چه د یوبل په غوږونوکښې شپیلی وهی چه ګوره پاګل شوې څه ؟ ګورې نه؟ دوه ګهړو کښې به نقشه بدله شی تختئ واپس شئ واپس ځئ.

یا اهل یثرب ، د یثرب نه مراد مدینه منوره ده :: د یثرب نه مراد مدینه طیبه ده. لکه چه په حدیث کښې دی ماته په خوب کښې ستاسو د هجرت ځائ خودلې شوې دې. چه ددوو غریزو میدانونو په مینځ کښې دې اول خوزما خیال شوې وو چه دا هجر دې خونه دا یثرب دې. (۱) یوبل روایت کښې دی چه هغه ځائ مدینه طیبه ده. البته داخیال هم ساتئ چه په یوضعیف حدیث کښې دی چه څوك مدینې طیبه ته یثرب اووائی هغه دې استغفار اوکړی مدینه خو طابه ده هغه طابه ده. (۲) داحدیث صرف په مسنداحمدکښې دې اود دې په اسنادوکښې ضعف دې. وئیلې شی چه د عمالیق نه کوم سړې راغلې وو او حصار شوې وو د هغه نوم یثرب بن عبید بن مهلائیل بن عوص بن عملاق بن لاود بن ارم بن سام بن نوح وو. د دې د پاره دانبار هم د هغه په نوم باندې مشهورکړې شو. داهم یوقول دې چه په تورات کښې د دې یولس نومونه راغلې دی. مدینه طابه جلیله جابره محبه محبوبه قاصمه مجبوره عذرامرحومه طیبه. کعب احبار رحمه الله فرمائی چه مونږ په تورات کښې داعبارت وینو چه الله تعالى مدینې منورې ته اوفرمائیل اې طیبه اواې طابه اواې مسکینه په خزانوکښې مه اخته کیږه په ټولو ځایونو باندې به ستا درجه اوچته وی. څه خلقو خو په دې موقعه په خندق کښې وئیل دلته حضور ﷺ سره د پاتې کیدو ځائ نشته خپلوکورونوته واپس لاړشئ. بنوحارثه وئیل یارسول الله ﷺ زمونږ په کورونوکښې د غلاکیدو خطره ده. هغه خالی پراته دی مونږ له د واپس تلواجازت پکاردې. اوس بن قیظی هم دا وئیلې وو (۳) چه زمونږ په کورنوکښې د دښمن د ننوتو اندیښنه ده مونږ ته د تلو اجازت راکړئ. الله تعالى دهغوی د زړه خبره اوخودله چه دوی خو دهوکه کوی په حقیقت کښې هیڅ عذر هم نشته په نامردئ سره تختی د جنګ نه ځان پټوی خوئیدل غواړی.

وَلَوْ دُخِلَتْ	عَلَيْهِمْ	مِّنْ اَقْطَارِهَا	ثُمَّ سُئِلُوا
اوکه چرې داخل شوې وې داکافران|په هغوئ باندې|داطرافودمدینې ښار ته|بیا|طلب شوې وې دهغوئ نه			
اوکه چرې د مدینې د طرف نه پرې څوک راننوځی	اودوئ ته دفساد جوړلو وینا اوکړی		
الْفِتْنَةَ	لَاٰتَوْهَا	وَمَا تَلَبَّثُوْا	بِهَآ
دفتنې جوړولو |نوخامخا به ورغلی وې هغې له |اووخت به نۀ وۀ تیر کړې هغوئ |په جوړولو دفتنې کښې		
نو په هغې پسې به (په منډه) ورشی	او په دغه کورونو کښې به ډیر لږ (ناست)		

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب اذا رای بقر انتحر:۷۰۳۵، صحیح مسلم:۲۲۷۲، ابن حبان:٦٢٧٦.
(۲) احمد:٤/٢٨٥، مسندابی یعلی :١٦٨٨،
(۳) الطبری:٢٠/٢٢٥.

Scanned with Ca

اِلَّا يَسِيْرًا ﴿١٤﴾	وَلَقَدْ كَانُوْا	عَاهَدُوا اللّٰهَ	مِنْ قَبْلُ	
مگر ډير لږ	اووو	دا خلق	چې وعده نې کړې وه دالله سره	مخکښې ددې نه
پاتې شي	او حال دا دې چې دې خلقو داول نه الله ﷻ سره دا وعده کړې وه			
لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ؕ	وَكَانَ	عَهْدُ اللّٰهِ	مَسْئُوْلًا ﴿١٥﴾	قُلْ
چې نه به ګرزوی شاګانې	او ده	وعده الله	چې تپوس به نې خامخا کيږی	ورته اووايه
چې دوئ به تيښته نه کوی	اودالله ﷻ سره شوې وعده خو خامخا غوښتلې شی		ته ورته اووايه	
لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ	الْفِرَارُ	اِنْ فَرَرْتُمْ	مِّنَ الْمَوْتِ	اَوِ الْقَتْلِ
هرګز به فائيده درنګړی تاسو له	دا تيښته	که اوتښتيدئ تاسو	د مرګ نه	يا دقتل نه
چې تيښته هيڅ فائده نه شی ورکولې	.....	که تاسو دمرګ يا دقتل نه تښتئ		
وَاِذًا	لَّا تُمَتَّعُوْنَ	اِلَّا	قَلِيْلًا ﴿١٦﴾	قُلْ	مَنْ ذَا الَّذِيْ
نو بيا به	دژوند نه فائيده وانغستلې شی	مګر	لږه	ورته اووايه	څوک دې هغه کس
او په دغه وخت کښې به درته د معمولی فائدې نه سوا بل هيڅ په لاس درنشی			ورته اووايه څوک به		
يَعْصِمُكُمْ	مِّنَ اللّٰهِ	اِنْ اَرَادَ	بِكُمْ	سُوْٓءً	اَوْ اَرَادَ
چې اوساتی تاسو	دالله نه	که اراده اوکړی الله	په تاسو باندې	دنقصان (ضرر)	يا اراده اوکړی
تاسو دالله ﷻ نه بچ کړی	که چرې هغه تاسو ته تکليف درکول اوغواړی			يا که په	
بِكُمْ	رَحْمَةً ؕ	وَلَا يَجِدُوْنَ	لَهُمْ	مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ	
په تاسو باندې	درحمت	اونۀ شی موندې دوئ	دپاره دځانونو خپلو	په مقابله دالله کښې	
تاسو مهربانی کول اوغواړی	(نو څوک يئ منع کولې شی) اودوئ دالله ﷻ نه بغير				
وَلِيًّا	وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٧﴾				
څوک دوست	اونۀ مددګار				
بل څوک دوست يا مددګار موندلې نشی					

قوله تعالی:: وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ

د جهاد نه د تيختې سزا:- کوموخلقو چه داعذرونه کول اود جهاد نه تختيدل چه زمونږ کورونه يوازې دی د کوم بيان چه پورته تيرشو. د هغوی باره کښې الله تعالی فرمائی که په دوی باندې دښمن د ځلورو واړو طرفونو نه راشی اود هر هر طرف نه راتاوشی اوبياد دوی نه په کفرکښې د داخليدو سوال اوکړې نو بې تامله به کفر قبول کړی خود لږې ويرې اوخيالی دهشت په وجه د ايمان نه لاس راکاږی. دا د هغوی خرابې بيانوی. بيا فرمائی هم دا خو هغه دی چه اول نی اوږدې اوږدې خبرې کولې که هرڅه ولې اونه شی مونږ د جنګ د ميدان نه تيختې والا نه يوولې دوی نه پوهيږی کومې وعدې چه دوی الله تعالی سره کړې وې الله تعالی به د هغې تپوس پوښتنه کوی.

قوله تعالی:: قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ

Scanned with Ca

بیا ارشاد کیږی چه دمرګ نه تیښته د جنګ نه ځان پټول میدان کښې شاکولوسره ځان نه شی بچ کولې. بلکه ډیر ممکن دی چه د الله تعالی ناڅاپی نیول ډیر زر راشی اود دنیالږه شان نفع هم حاصله نه کړې شی.سره د دې چه دنیاخود آخرت غوندې باقی ځیز په مقابله کښې ټوله په ټوله سپکه او صرف بې فائدې ځیز دې. بیا فرمائی چه بغیرد الله تعالی نه هیڅ څوک نه شی ورکولې نه دبل په ذریعه ورکولې شی نه امداد کولې شی اونه په حمایت سره راتلې شی.الله تعالی خو خپلې ارادې پوره کوی.

قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ	الْمُعَوِّقِيْنَ
بیشکه ښه پیژنی الله	مخه بندونکی (په کار دجنګ کښې)
الله ﷻ په تاسو کښې هغه کسان ښه پیژنی	
مِنْكُمْ	وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ
ستاسو نه	او ویونکی رونړو خپلو ته چی راځئ زمونږ طرفته اونه راځی هغوئ
(چې په جهاد کښې دشریکیدو نه) منع کوی	اوخپلورونړو ته وائی چې زمونږ طرفته راشئ
الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۸﴾	اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۚ فَاِذَا
جنګ ته مګر	لږ چی سخت بخیلان دی اپه تاسو باندې(په ملګرتیا کښې) اپس هر کله
او خپله هم په جنګ کښې شرکت نه کوی مګر ډیر کم	ستاسو په حق کښې ډیرشومان دی
جَآءَ الْخَوْفُ	رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ
چی راشی یره	نو وینې ته هغوئ لره چی ګوری تاته چاپیره ګرځی سترګې دهغوئ
نوهر کله چې دویرې وخت راشی	نو ته ئې وینې چې داسې درته ګوری چې(له ویرې نه) ددوئ سترګې
كَالَّذِيْ	يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا
پشان دهغه چا	چی بیهوشی راوستلې شوی وی په هغه باندې دمرګ نه پس هر کله چی
تاوراتاؤ کیږی	لکه چې دمرګ بې هوشی پرې راغلی وی خو چې ویره (تری نه)
ذَهَبَ الْخَوْفُ	سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ؕ
لاړه شی یره	نو ملاویږی ستاسو سره په ژبوتیرو سره زیات حریصان په خیر باندې
لاړه شی نو دوئ د مال غنیمت په لالچ کښې په تیزو ژبو سره تاسو ته پیغورونه درکوی	
اُولٰٓئِكَ	لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ؕ وَكَانَ
دا کسان چی دی	دوئ هر ګز ایمان نه دې راوړې اپس ضائع کړل الله عملونه ددوئ
دې خلقو هډوایمان نه دې راوړئ	نو الله ﷻ ددوئ ټول عملونه برباد کړل
ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۹﴾	
په الله باندې	اسان
اودا خبره الله ته ډیره اسانه ده	

قوله تعالی:: قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ

د جهادنه تیخته په اصل کښې د ایمان نه تیخته ده:- الله تعالی په خپل محیط علم سره هغوی پیژنی کوم چه نور خلق هم د جهادنه منع کوی. خپلو ملګرو یارانودوستانو او د ځاندان اوقبیلې خلقوته وائی راځئی تاسو هم مونږ سره شئی. خپل کورونه خپلې زمکې اوبچی مه پریږدئی. پخپله هم جهاد ته نه راځی دایوه بله خبره ده چه کله کله مخ رانښکاره کړی اونوم اولیکی. داډیر بخیلان دی نه د دوی نه تاته څه امداد رسیدلې شی اونه د دوی په زړه کښې ستاسره څه همدردی شته نه په مال غنیمت کښې ستاپه حصه خوشحاله دی. د ویرې په وخت کښې خود دې بزدلانو وارخطاکیږی اوسترګې توغې توغې کیږی. د ناامیدئی په نظر سره ګوری. خوچه ویره تری لرې شی نو بیااوږدې اوږدې ژبې راوویستې اوغټې غټې دعوې کولې. مونږ له راکړه مونږ له راکړه شورئې جوړکړې وی. مونږ ستاسو ملګری یو مونږ د جنګ خدمات پوره کړې دی زمونږ حصه هم شته. خود جنګ په وخت کښې خپل شکل هم نه ښائی د منډې وهونکو شاته اوجنګ کونکو پسې شاته پاتې کیږی. د مال په طمع اولالچ کښې لکه د مچانو په شان اینځتې وی ښه ده چه دروغ او نامردی دواړه عیبونه په چا کښې راجمع وی د هغه په شان بې خیره انسان به بل څوك وی؟ د امن په وخت کښې مکرتوب بداخلاقی خرابې ژبې اود جنګ په وخت کښې نامردی ژړه غوڼې او د ښځو په شان خصلتونه. د جنګ په وخت کښې د حائضه ښځې په شان ځان له یوازې او د مال د اخستلو په وخت کښې د خرو په شان چغې وهل. الله تعالی فرمائی خبره دا ده چه د هغوی زړه د شروع نه د ایمان نه خالی دې خکه خود هغوی عملونه هم بې کاره دی دا ټول الله تعالی ته آسان دی.

يَحْسَبُوْنَ	الْاَحْزَابَ	لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ	
ګمان کوی دوئ | په حمله کونکو ډلو باندې | چې لاښه دی تلی هغوئ			
دوئ دا ګمان کوی چې (په مدینه باندې حمله کونکی) لښکرې لا واپس تلی نه دی			
وَاِنْ يَّاْتِ	الْاَحْزَابُ	يَوَدُّوْا	لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ
او که بیا راشی (حمله اوکړی) | ډلې | نو خوښوی به دوئ | کاش چې دوئ | اوسیدونکی وې |			
اوکه دغه لښکرې بیا راشی | نو دوئ به دا غوره اوګڼی | چې بهر په میرو کښې ډیره وی			
فِي الْاَعْرَابِ	يَسْاَلُوْنَ	عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ؕ	وَلَوْ كَانُوْا
په باندو کښې | چې تپوسونه ئې کولې (دلرې نه) | دخبرونو (یعنی حالاتوی) ستاسو | او که وې دوئ			
.....تش ستاسو د حالاتو تپوسونه یئ کولې | اوکه چرې دوئ تاسره هم وی			
فِيْكُمْ	مَّا قٰتَلُوْٓا	اِلَّا قَلِيْلًا ۝	لَقَدْ كَانَ لَكُمْ
په منځ ستاسو کښې | نه به ووځی جنګ دوئ | مګر لږ | په تحقیق سره ده | ستاسو دپاره			
نو په جنګ کښې به ډیره کمه حصه اخلی | (مسلمانانو)! تاسو دپاره (په دې سختو حالاتو) کښې درسول الله			
فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ	اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ	لِّمَنْ كَانَ	يَرْجُوا اللّٰهَ
په رسول دالله کښې | نمونه | ښه بهتره | دپاره دهغه چا | چې امید لری هغوئ | دملاقات دالله |			
په ذات کښې ښائسته نمونه موجوده ده | داسې خلقودپاره چې دالله ﷻ اودقیامت دورځې			

Scanned with Ca

وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ۝ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ
او دورخې دآخرت | او یادوی الله | ډیر | او هر کله چې | اولیدلې | مومنانو |
نه ویریږی | او الله ﷻ ډیر ډیر یادوی |..... او څه وخت چې مومنانو دغه لښکرې اولیدلې نو
الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ
لښکرې | نو اووئیل دوئ | دا هغه څیز دی | چې ددې وعدې کړی وه زمونږ سره الله |
وې وئیل | چې دا خوهغه موقع ده چې الله ﷻ او د هغه رسول دکومې وعده کړې وه
وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۫ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ
او رسول دهغه | او رښتیا وه خبره دالله | او درسول دهغه | او زیات نۀ کړو دوئ لره دې واقعې | مګر
..... اوالله ﷻ اوددۀ رسول ﷺ رښتیا وئیلی وو | او کفارو دې حملې
اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ۝
ایمان | او غاړه ایښودل ددوئ |
ددوئ ایمان او اطاعت نور هم زیات کړو |

قوله تعالی:: يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا

نفاق بزدلی ده:- د هغوی د بزدلئی او ویرې داحال دې چه تراوسه پورې د هغوی د دې خبرې یقین اونه شو چه د کافرانو لښکر واپس شو اوداخطره ده چه هغوی چرته بیاراواپس نه شی. د مشرکانو لښکر کتلو سره ئی وارخطاشی اووائی چه افسوس مونږ مسلمانانوسره په دې ښارکښې هډو وو نه. بلکه چرته د باندچیانو سره په شاړو بنجرو او لرې ځنګلونوکښې وې چرته د تلونکو راتلونکوخلقونه مو تپوس کولو چه د جنګ څه اوشو؟ الله تعالی فرمائی چه که دوی تاسره وی هم نو بې کاره دی د دوی زړونه مړه شوی دی د نامردئی ګونړی (وینو) هغه ډډ کړی دی دوی به څه جنګ اوکړی اوڅه بهادری به اوښائی؟

قوله تعالی:: لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

د رسول الله ﷺ ژوندیوه ښکلې نمونه ده:- دا آیت ډیر لوئ دلیل دې په دې امر باندې چه د نبی کریم ﷺ قول اقوال افعال احوال اقتدار منل پیروی کول د تابعدارئی لائق دی. په جنګ احزاب کښې هم چه کوم صبر تحمل بې مثاله بهادرئې مثال حضور ﷺ قایم کړولکه د الله تعالی د لارې تیاری د جهاد شوق اود سختئی په وخت کښې هم د رب نه د آسانئی امید هغه وخت نبی اکرم ﷺ اوخودلو نویقیناً دا ټول څیزونه د دې قابل دی چه مسلمانان دې دا د خپل ژوندیوعظیم حصه جوړه کړی اودخپل خوږنبی حبیب کبریااحمدمجتبی احمدمختار حضرت محمد مصطفی ﷺ د خپل ځان د پاره یوه بهترینه نمونه جوړه کړی اوپه دې صفتونوسره خپل ځان هم متصف کړی. د دې د پاره قرآن کښې هغه خلقوته کوم چه په هغه وخت کښې روستوشوی وو اود ویرې اوپریشانئی بنکاره کونه ئی کوله فرمائی چه تاسو زما د نبی ﷺ تابعداری ولې اونه کړه؟ زمارسول ﷺ خو په تاسوکښې موجود وو د هغه نمونه ستاسو په وراندې وه. تاسو ته نی نه یوازې د صبر اواستقامت تلقین کړې وو بلکه د ثابت قدمئی استقلال او اطمینان یولوئ غرستاسوپه وراندې ولاړوو. که تاسو په الله تعالی باندې په قیامت باندې ایمان ساتلونو بیا هیڅ وجه نه وه چه تاسو به خپل رسول ﷺ د خپل ځان د پاره نمونه اومثال نه ګرځولو؟

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ

دربښتونی مؤمنانو د ایمان بیان: بیادَ الله تعالی دَ ربښتونې مؤمنانو اودَ الله تعالی دَ فوځیانو دَ حضور ﷺ دَ ربښتونی ملګرو اوکلك ایمان والا بیان کولې شی چه هغوی کله دَ کمزوری زړه والا کافرانو لښکر اولیدو نو په اول نظر کښې اووئیل چه هم په دوی باندې د فتح موندلو مونږ ته خوشخبری لوزیږي ملاوشوې دې اوهم د دوی د شکست مونږ سره وعده کړې شوې ده. اووعده هم دَ چا دَالله تعالی اود هغه دَ رسول ﷺ. اودانامکن دی چه دَ الله تعالی اودَ هغه دَ رسول ﷺ وعده غلطه شی. یقیناً د دې جنګ دَ کامیابئی سهرا به هم زمونږ په سرونووی. د هغوی دې پوره یقین دَ ایمان ربښتونې جذبه الله تعالی هم اولیدله او په دنیااوآخرت کښې بهترینه کامیابی هغوی ته ورکړه. ډیر ممکن دی چه دَ الله تعالی د کومې وعدې په دې کښې ارشاره ده هغه دا آیت وی چه په سورت بقره کښې تیرشوې دې. ﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ۖ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ﴾ (۱) یعنې آیا تاسودا اوګنړل چه بغیرد دې نه چه ستاسو ازمیښت اوشی تاسو به جنت ته لاړشئی؟ تاسو نه د وړاندې خلقو هم ازمیښت شوې دې هغوی په غم تکلیف جنګ جګړو کښې راګیرکړې شوی وو تردې چه هغوی اوجړقولې شو چه دَ ایماندارانو اوپخپله دَ رسول الله ﷺ دَ خلې مبارکې نه اووتل چه دَ الله تعالی امدادکښې وخت ولې اولګیدو؟یادساتئی دَ الله تعالی امداد ډیر نیزدې دې. (۲) یعنې داخوصرف امتحان دې دیخوا تاسو ثابت قدمی اوخودله اخوادَ الله تعالی امدادراغلو. الله تعالی اودَ هغه رسول ﷺ ربښتونې دی.

د صحابه کرامو د ایمان تعریف :: فرمائی چه دَ رسول الله ﷺ دې صحابه کرامو چه دَ خپل مخالفینو دا دومره ګڼړه اولیده نو دَ هغوی یقین نور هم زیات شو. دوی په خپل ایمان او خپل تسلیم کښې نور هم زیات شو. پوره یقین ئی اوشو فرمانبرداری ئی نوره هم زیاته شوه. په دې آیت کښې دلیل دې دَ ایمان په زیاتیدو باندې اوپه نسبت دَ نورو دَ هغوی د ایمان کلکیدو. د جمهورو ائمه حضراتو هم دغه مذهب دې چه ایمان زیاتیږی اوکمیږی. مونږ هم د دې تقریر دَبخاری شریف د شرح په شروع کښې کړې دې. وللّٰه الحمد والمنه. فرمائی چه دې سختیا او تاو تریخ اودې تنګ حالئی داحال اودانقشه د هغوی چه کومه دَ ایمان په الله تعالی باندې وه نوره ئی هم زیاته کړه اودَ منلوکوم خوئی چه په هغوی کښې وودَالله تعالی اودَ رسول الله ﷺ خبرې به ئی منلې اوپه هغې باندې عمل کونکی وو په دې تابعدارئی کښې نورهم زیات شو.

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ	رِجَالٌ	صَدَقُوا		
ځینی دمومنانونه	داسې سړی (خلق) دی	چې رشګتیاکړه هغوئ		
په مومنانو کښې بعضې داسې دی	چې دالله ﷻ سره ئې			
مَا	عَاهَدُوا	اللَّهَ	عَلَيْهِ ۖ	فَمِنْهُمْ	مَنْ
هغه خبره اچې وعده کړې وه هغوئ	دالله سره	په هغې باندې	پس ځینی دهغوئ نه	هغه څوك دی	
خپل لوظ په ربښتیا پوره کړو	.....نو په دوی کښې خوځینې هغه دی چې خپله منښته پوره کړه				

۱) ۲/البقرة: ۲۱٤.
۲) الطبری: ۲۰/۲۳٦.

Scanned with Ca

قَضٰى	نَحْبَهٗ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ	يَّنْتَظِرُ ۫	وَمَا بَدَّلُوْا

چې پوره نې کړو | نذر خپل | اوخپنې دهغوئ نه | هغه دی | چې انتظار کوی | اوبدل نې نه کړو عمل خپل
او څوک په کښې لا د وخت انتظار کوی | اودوئ (په خپله رویه کښې) ذره بر بدل

تَبْدِيْلًا ۝	لِيَجْزِيَ	اللّٰهُ	الصّٰدِقِيْنَ	بِصِدْقِهِمْ

به بدلولو سره | دپاره ددې چې بدله ورکړی | الله | ریښتینو مسلمانانوته | درښتینولئ دهغوئ
نشو | داواقعه ځکه اوشوه | چې الله ﷻ ریښتونو مسلمانانو ته ددوئ درښتیاؤ اجر ورکړی

وَيُعَذِّبَ	الْمُنٰفِقِيْنَ	اِنْ شَآءَ	اَوْ يَتُوْبَ	عَلَيْهِمْ ؕ

او چې سزا ورکړی | منافقانوله | اکه خوښه نې شی | یا رجوع په رحمت سره وکړی | په هغوئ باندې
او منافقانو ته که چرې اوغواړی نو سزاورکړی | ..... | یا د هغوئ توبه قبوله کړی

اِنَّ اللّٰهَ	كَانَ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا ۝

بیشکه الله | دی | ښښونکې | مهربانه |
بیشکه الله ﷻ ښښونکې مهربان دی

قوله تعالی:: مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا

مومنانو اوکافرانوکښې فرق:- د منافقانو ذکر پورته تیرشوچه د وخت نه وړاندې خو د خپل ځان قربانی کولو اوږدې اوږدې دعوې کولې خوپه وخت راتلو کښې پوره بزدل او نامرده ثابت شو. ټولې وعدې هم داسې پاتې شوې اود ثابت قدمئ په ځای شاکړې اوتختیدل. دلته د مؤمنانوذکر کولې شی چه هغوی خپلې وعدې پوره کړې وئی خودلې. بعضود شهادت جام نوش کړو اوبعضی د دې په انتظارکښې بې ارامه ناست دی. په صحیح بخاری کښې حضرت زید بن ثابت ﷺ فرمانی کله چه مونږ قرآن پاک لیکل شروع کړه نوماته یوآیت نه ملاویدلوسره ددې چه په سورت احزاب کښې هغه آیت ماپخپله د رسول الله ﷺ د مبارکې ژبې نه اوریدلې وو. آخر حضرت خزیمه بن ثابت انصاری ﷺ سره دا آیت ملاوشو. داهغه صحابی دی چه دچاځان له گواهی چه رسول الله ﷺ د دوو کسانو برابره کړې وه. هغه آیت ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۫ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ۝﴾ (۱)

ددې ایت مبارک شان نزول او تفصیل: دا آیت د حضرت انس بن نضر ﷺ باره کښې نازل شوې دی. (۲) واقعه دا ده چه هغوی په جنګ بدرکښې نه وو شریک شوی د ځه چه هغه ته سخت افسوس ووچه د ټولونه اول جنګ کوم کښې چه رسول الله ﷺ پخپله بذات خود شریک ووزه شامل نه شوم. اوس چه د جهاد موقعه راشی زه به الله تعالی ته خپل صداقت ښایم. داهم چه زه به څه کوم؟ د دې نه زیاته ویناکولوسره اوویریدو. اوس چه کله د جنګ احد موقعه راغله نوهغه اوکتل چه مخامخ حضرت سعدبن معاذ ﷺ راروان دې هغه نی چه اوکتلو نو په حیرانتیاسره نی ټپوس اوکړوابوعمر چرته روان ئی؟ والله ماته خود احد د غرنه اخواته د جنت خوشبویاني راځی. دې وینا کولوسره هغه وړاندې شو اومشرکانوسره ئی ښه توره اوچلوله مسلمانان واپس شوی وو اودې یوازې وو د هغه بې شانه حملو د

---

(۱) ۳۳/الاحزاب:۲۳.. صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب ﴿فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظر...﴾:٤٧٨٤، ترمذی٣١٠٤.

(۲) صحیح بخاری حواله سابق:٤٧٨٣.

Scanned with Ca

کافرانو غاښونه مات کړی وو او په چغو صورو سره راغله اود ځلورو واړو طرفونه نی راګیرکړو او شهید کړی شو. په هغوی باندې د اتیاو نه زیات زخمونه راغلی وو څه د نیزې څه د توری اوڅه د غشو. د شهادت نه پس چا هغه اونه پیژندو تردې چه د هغوی خور هغه اوپیژند اوهغه هم د لاسونو د ګوتو بندونه کتلوسره. هم د هغه پاره کښې دا آیت نازل شوې دې. (۱) اوهغه هم داسې وو چه څه نی ونیلې وو هغه نی اوخودل ﷺ. یوبل روایت کښې دی چه کله مسلمانان اوتختیدل ، رسول کریم ﷺ عرض اوکړو چه یاالله هغوی چه څه اوکړل د هغې نه خو زه معذوری ښکاره کوم اومشرکانو چه څه اوکړه د هغې نه ویزاره یم. په دې کښې داهم دی چه حضرت سعد ﷺ هغه ته اوفرمائیل زه تاسره یم. ورسره لاړ هم شو خو فرمائیلې چه هغه څه کول هغه زما د طاقت نه بهر وو. (۲) د حضرت طلحه ﷺ بیان په ابن ابی حاتم کښې دې چه د جنګ اُحدنه رسول الله ﷺ مدینې ته واپس راغلو نوپه منبرباندې کیناستو او د الله تعالیٰ حمد اوثنا نی بیان کړه او مسلمانانوسره نی همدردی ښکاره کړه. اوکوم کوم چه شهیدان شوی وو د هغوی درجې نی اوخودلې. بیائی د دې آیت تلاوت اوکړو. یومسلمان اودریدو تپوس نی اوکړو د کومو خلقو چه په دې آیت کښې ذکر دې هغه څوک دی. په دې وخت کښې زه مخامخ راروان ووم اود شین ښنبن رنګ دوه کپړې مې اچولې وې. حضور ﷺ زما طرف ته اشاره اوکړه ونی فرمائیل اې تپوس کونکیه داهم په هغوی کښې دې. (۳) د هغه خوئ حضرت موسی بن طلحه ﷺ حضرت معاویه ﷺ دربار ته لاړو کله چه د هغه ځائ نه واپس راغلو نود دروازې نه بهر وتلې ووچه جناب معاویه ﷺ واپس راوغوښتو او ونی فرمائیل راشه مانه یوحدیث واوره. ماد رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه ستا پلارطلحه ﷺ د هغوی نه دې. دَچا بیان چه په دې آیت کښې دې چه هغوی خپله وعده اونذرپوره کړو. (۴) رب العالمین د هغوی بیان کولوسره فرمائی چه بعضې خود هغه ورځ په انتظاردی چه بیا دې جنګ وی اوهغوی خپله کارګذاری الله تعالی ته اوښائی اود شهادت جام نوش کړی. نو بعضو خوصداقت او وفاداری ثابته کړه اوبعضې د موقعه په انتظارکښې دی. هغوی نه خپله وعده بدله کړه او نه د نذر نه پوره کولو د هغوی څه خیال شته بلکه هغوی په خپله وعده باندې کلك ولاړدی. هغوی د منافقانو په شان په وخت باندې بهانې جوړونکی نه دی. دا ویره اوزلزله صرف د دې د پاره وه چه خبیث اوطیب فرق معلوم شی او ښه اوبدحال هرچاته ښکاره شی. ځکه چه الله تعالی خو عالم الغیب دې د هغه په نیز خو پټ او ښکاره برابر دی. چه کوم نه دی شوی هغه هم داسې پیژنی لکه چه هغه شوی وی. خود هغه عادت دې چه ترکومې مخلوق عمل اونه کړی هغوی ته صرف دخپل علم په وجه سزا اوبدله نه ورکوی. لکه چه الله تعالی ارشاد دې﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَا۟ اَخْبَارَكُمْ ۝﴾ (۵) مونږ به ستاسو ښه پرتال اوکړو اومجاهدین اوصابرین به تاسو نه بیل کړو. نود وجود نه د اول علم اود وجود نه پس علم دواړه الله تعالی ته دی اودې نه پس جزا اوسزا. لکه چه فرمائی ﴿مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۭ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۠ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝﴾ (۶) یعنی الله تعالی چه په کوم حال باندې تاسو نی هم په هغې

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الجهاد باب ثبوت الجنة للشهید:۱۹۰۳،ترمذی: ۳۲۰۰، احمد:۳/۱۹۳.
(۲) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الاحزاب:۳۲۰۱، صحیح مسلم:۲۸۰۵.
(۳) ترمذی حواله سابق:۳۲۰۳وسنده حسن، مسندابی یعلی:۶۶۳بتصرف یسیر.
(۴) ترمذی حواله سابق:۳۲۰۲وسنده حسن، ابن ماجه: ۱۲۶.
(۵) ۴۷/محمد:۳۱.
(۶) ۳/آل عمران: ۱۸۲. الخ

Scanned with Ca

باندې مؤمنان پریږدی نوداسې نه ده چه ښه اوبد تمیز به نه کوی. نه الله تعالی داسې نه دې چه تاسو له دغیبو خبردرکړی. نودلته هم فرمائی چه هغه په دې وجه صادقانو له دَخپل رښتیاؤ بدله ورکوی اووعده خلافو منافقانوته سزا ورکوی یاهغوی ته د توبې توفیق ورکوی چه دوی خپله لار بدله کړی او په رښتونی زړه سره دَ الله تعالی طرف ته تیټ شی نوالله تعالی به هم په هغوی مهربان شی اودَ هغوی خطاګانې به معاف کړی. خکه چه هغه دَ خپل مخلوق خطاګانې معاف کونکې او په هغوی باندې مهربانئی کونکې دې. دهغه کرم اورحمت دَ غضب اوغصې نه ډیر زیات شوې دې.

وَرَدَّ اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	
او واپس کړل الله	هغه کسان	چې کفر ئې کړې وو	
اوالله ﷻ کافران په غصه کښې ډک واپس کړل			
بِغَيْظِهِمْ	لَمْ يَنَالُوْا	خَيْرًا ؕ	وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ
دغصې دهغوئ سره	چې حاصل ئې نۀ کړو	هیڅ خیر	او کافی شو الله دمومنانو دطرفنه
اود هغوئ هیڅ مراد پوره نه شو	اوهم الله ﷻ مومنانو دپاره په جنګ کښې		
الْقِتَالَ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	قَوِيًّا عَزِيْزًا ۝	
دپاره دجنګ	او دې الله	قوت والا غالب	
کافی شو	اوالله ﷻ ډیر قوی اوزبردست دې		

قوله تعالی:: وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په جنګ خندق کښې دَ الله تعالی دَ امداد نازلیدل:- الله تعالی خپل احسان بیانوی چه هغه طوفان اوباد او باران راولیګلو اوخپل نه ښکاریدونکې لښکر ئی راکوزکړو اوکافران ئی تس نس کړل اوهغوی په سخته ناامیدئی اونامرادئی سره خپله ډیره اخواکولو ته مجبوره شو. بلکه که دوی دَ رحمة للعالمین په امت کښې نه وې نودې هواګانویه دوی سره هغه کول کوم چه عادیانوسره هغه بې برکته هواکړې وو. دَرب العالمین ارشاددې چه ترکومې ته په دوی کښې ئې نوالله تعالی به دوی ته عام عذاب نه ورکوی. نودوی ته ئی صرف دَ خپل شیطانت مزه ور اوڅکله. دهغوی ډله ئی ګډوډه کړه اودهغوی نه ئی خپل عذاب اخواکړو. دَ دوی دا ډله بازی صرف یو خپله نفسانی ډله وه نوڅکه هواهغوی خراب کړل کوم سوچونه اوفکرونه ئی چه کړې وو هغه ټول خاورو سره خاورې شو. دَ کوم ځائ غنیمت؟ دَ کوم ځائ فتح؟ په خپل خان باندې اخته شو. لاسونه ئې مروړل، غاښونه چیچل اودَ غصې نه تاویدل په ذلت رسوائی نامرادئی او ناکامئی سره واپس شو. د دنیاتاوان ئی خان له اودَ آخرت نقصان پرې دپاسه. خکه چه کوم سړې دَ یوکار اراده اوکړی اوهغې ته عملی شکل هم ورکړی نوکه په هغې کښې کامیاب شی اوکه نه نوګناهګارخوبه وی. نود رسول الله ﷺ دَ قتل اودهغه د دین دَ ختمولو خواهش او دَ هغې تیارې اوبیاعمل هرڅه هغوی اوکړل خوقدرت دَ دواړو جهانوبوج په هغوی باندې راواچولو هغوی ئی سوزیدلی زړه واپس کړل. الله تعالی پخپله دَ مؤمنانودَ طرف نه دَ هغوی مقابله اوکړه نه مسلمانانو هغوی سره جنګ اوکړو اونه ئی هغوی اخواکړل بلکه مسلمانان په خپل ځائ باندې پاتې وو اوهغوی منډې وهلې. الله تعالی دَ خپل لښکر عزت اوساته اودَ خپل بنده اورسول ﷺ امدادئی اوکړو اوپخپله کافی شو.

Scanned with Ca

د جنګ احزاب په موقع درسول کریم ﷺ دعاء: د دې د پاره به حضور اکرم ﷺ فرمائیل چه د الله تعالی نه سوا بل څوك معبودنشته هغه یوازې دې هغه خپله وعده رښتیاکړه د خپل بنده امدادئی اوکړو د خپل لښکر عزت ئی اوکړو ټولودښمنانوسره پخپله مقابله شو اوټولوته ئې ماتې ورکړه. دې نه پس نور څوك هم نشته. (۱) (بخاری ومسلم). حضور ﷺ د جنګ احزاب په موقعه د الله تعالی نه دعاکړې وه هغه هم په بخاری اومسلم کښې روایت ده. حضور ﷺ فرمائیلې وو ((اللهم منزل الکتاب سریع الحساب اهزم الاحزاب وزلزلهم)) اې الله تعالی اې د کتاب نازلونکیه اې زر حساب اخستونکیه دې لښکروته شکست ورکړه اودوی اوخوزوه. (۲) په دې فرمان ﴿ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ﴾ یعنی الله تعالی د مؤمنانو کفایت په جنګ سره اوکړو. په دې یوه ډیره ښکلې مزیداره خبره ده چه نه یوازې د دې جنګ نه مسلمانان خلاص شو بلکه د بیاد پاره هم همیشه صحابه کرام رضی الله عنهم دې نه بچ شو چه مشرکان په دوی حمله اوکړی. تاسو تاریخ اوګورئی د جنګ خندق نه پس د کافرانو همت نه دې شوې چه هغوی په مدینه طیبه باندې یا په حضور ﷺ باندې چرته پخپله حمله کړې وی. د هغوی د سپیرو قدمونونه الله تعالی د خپل حبیب پاك ﷺ د قرار اوآرام ځائ محفوظ اوساتلو. فالحمدلله. په خلاف د دې مسلمانان په دوی باندې ورختلې دی تردې چه د عربو د زمکې نه الله تعالی کفر او شرك ختم کړو. کله چه د دې جنګ نه کافران راواپس شو هم هغه وخت رسول الله ﷺ د پیشنګوئې په توګه فرمائیلی وو چه د دې کال نه پس به قریش تاسو سره جنګ نه کوی. بلکه تاسو به هغوی سره جنګ کوئی. (۳) هم داسې اوشو. تردې چه مکه معظمه فتح شوه. د الله تعالی د طاقت مقابله د بنده د وس کار نه دې. الله تعالی څوك مغلوب کولې نه شی. هغه د خپل امدادپه طاقت سره هغه خواره شوی او ګډې وډې شوې لښکر روستوکړو. هغوی ته ئی هسې په نوم باندې هم څه فائده ورنه کړه. هغه اسلام او مسلمانان غالب کړل خپله وعده ئی رښتیا اوخودله اوخپل بنده اورسول ﷺ سره ئی امداد اوکړو. فله الحمد.

					وَاَنْزَلَ	الَّذِيْنَ
					او راکوزکړل الله	هغه کسان
					او په اهل کتابو کښې چې کومو خلقو (دمکې)	
ظَاهَرُوْهُمْ			مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ			مِنْ صَيَاصِيْهِمْ
چې امداد ئې کړې وو دحمله کونکو سره			داهل	کتابونه		دقلاګانو دهغوئ نه
دکافرانو مدد کړې وو			هغوئ ئې دقلعه ګانو نه لاندې راکوز کړل			
وَقَذَفَ	فِيْ قُلُوْبِهِمُ	الرُّعْبَ	فَرِيْقًا	تَقْتُلُوْنَ		وَتَاْسِرُوْنَ
اووانې چوو	په زړونو دهغوئ کښې	داسې رعب	چې یوه ډله	قتلوله تاسو		او قید کوله تاسو
اودهغوئ په زړونو کښې ئې ستاسو رعب واچولو			چې بعضې مو تري اوژل			او بعضې مو تري
فَرِيْقًا ۚ	وَاَوْرَثَكُمْ	اَرْضَهُمْ	وَدِيَارَهُمْ			وَاَمْوَالَهُمْ
بله ډله	او په میراث کښې ئې درکړه تاسو له	زمکه دهغوئ	اوکورونه دهغوئ			اومالونه دهغوئ
بندیان کړل	اوتاسو ئې د هغوئ د زمکو اودکورونو اود نورو مالونو مالکان کړئ					

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة الخندق: ٤١١٤، صحیح مسلم: ٢٧٢٤، دلائل النبوة: ٤٥٦/٣.
(۲) صحیح بخاری حواله سابق: ٤١١٥، صحیح مسلم: ١٧٤٢، بیهقی: ٤٥٦/٣.
(۳) دلائل النبوة: ٤٥٨/٣.

Scanned with Ca

وَاَرْضًا لَّمْ تَطَئُوْهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ
او هغه زمکه | چې نه وۏ کیښودلې قدم تاسو په هغې | او دې الله | په هر څیز باندې |
اودهغې زمکې چې تاسوپرې (دجنګ په غرض) قدم قدرې ایخودې نه وو | او الله په هرڅه پوره پوره
قَدِیْرًا ۝
قادر |
قدرت لرې |

قوله تعالی:: وَاَنْزَلَ الَّذِیْنَ ظَاهَرُوْهُمْ

دبنوقریظه محاصره:- دومره مونږ اول لیکلې دی چه کله دَ مشرکانو اویهودیانولښکر مدینې طیبې نه راغلو اوهغوی ګیره واچوله نودَ بنوقریظه قبیله کومه چه په مدینه طیبه کښې موجود وه اودَ هغوی سره معاهده شوې وه هغوی هم په عین موقعه باندې خپله بې وفائی اوکړه وعده ئی ماته کړه سترګې اوخودلې. دَ هغوی سردار کعب بن اسد په خبروکښې راغلو اوحیی ابن اخطب خبیث هغوی په معاهده ماتولو باندې تیارکړل اول خوده اونه منل په خپله وعده باندې ولاړوو. حیي وئیل چه اوخوګوره تاته دَعزت تاج درپه سر کولوله راغلې یم. قریش اودَهغوی ملګری غطفان اودَهغوی ملګری اومونږ ټول یویو. مونږ داقسم خوړلې چه تر کومې مونږ یویو مسلمان قیمه قیمه نه کړو دې ځائ نه به نه اخواکیږو. کعب ډیر هوښیارسړې وو هغه جواب ردکړو داصرف غلطه خبره ده. داستاسودوس کارنه دې ته مونږته دَذلت طوق رااچول غواړې. ته ډیرسپیره سړې ئی زما دَ مخې نه اخوا شه اوما په خپل مکر کښې مه راګیروه. خوحیی بیاهم اخوا نه شو اوهغه ئی پوهه کولو. آخره کښې وئیل چه ګوره که قریش او غطفان اوتختی نوزه به سره دَ خپلې ډلې ستا ګرهئی ته راشم اوچه کوم ستا اوستادَ قوم حال وی هم هغه به زما اوزما دَ قوم حال وی. آخر په کعب باندې دَحیی جادو اوچلیدو اوبنوقریظه صلح ماته کړه. په دې سره حضوراکرم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته سخت خفګان اورسیدو اوډیره ګرانه ورته پریوتله. بیاچه کله الله تعالی دَ خپل غلامانوامداد اوکړو

د رسول ګریم ﷺ په بنو قریظه د حملې حکم: حضور ﷺ دَ صحابه کرامو سره په کامیابئی او سرفرازئی سره مدینې ته راواپس شو صحابه کرامو وسلې اوسپړدلې اوحضور ﷺ هم وسله کوزه کړه اودَ ام سلمه رضی الله عنها په کور کښې دَ ګرداوغبار نه دَ پاکیدو دَ پاره غسل کولوته کیناستو چه جبرائیل علیه السلام بښکاره شو دَ هغه په سرباندې ریښمی پټکې ووپه قچرباندې سور وو په کوم چه ریښمی ګدنی وه وئی فرمائیل یارسول الله ﷺ ولې تاسو ملا خلاصه کړه؟ حضور ﷺ اوفرمائیل او. حضرت جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل چه فرښتو ځو لاتراوسه پورې خپلې وسلې نه دی اخواکړی زه دَ کافرانو نه اوس اوس راغلم. واورئی دَ الله تعالی حکم دې بنوقریظه طرف ته لاړشئی اودَ هغوی پوره غوږونه راکاږئی. ماته هم الله تعالی حکم راکړې چه زه هم هغوی راګیرکړم. حضور ﷺ هم هغه وخت راپاسیدو تیارشو اوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته ئی حکم ورکړو وئی فرمائیل چه په تاسوکښې به هریوکس دَ مازیګر مونځ په بنوقریظه کښې کوی. دَ ماسپښین نه پس داحکم ملاوشوې وو.

دَ بنوقریظه قلعه دَ دې ځائ نه په یوځو میله فاصله باندې وه دَ مانځه وخت په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې هم په لاره راغلو نوبعضو مونځ اداکړو وئی فرمائیل چه دَ حضور ﷺ دَ دې فرمان کولو مطلب هم دا وو چه مونږ ډیر تیزلاړشو اوبعضووئیل چه مونږ خو به هلته رسیدو نه بغیرمونځ نه کوو. کله چه حضور ﷺ ته دا خبره معلومه شوه نو حضور ﷺ چاته هم رتنه یاغصه اونه کړه. حضور ﷺ په مدینه طیبه باندې حضرت ابن ام مکتوم رضی الله عنه خلیفه جوړکړو. دحضرت علی رضی الله عنه په لاس کښې دَ لښکر جهنډا ورکړه او

Scanned with Ca

پخپله هم حضور ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم سره شاته شاته دبنوقریظه طرف ته روان وو. تلوسره ئی د هغوی قلعه راګیره کړه ترپینځه ویشتو ورځوپوري محاصره وه. کله چه یهودیان ترپوزې راغله اوتنګ حال شو نو هغوی خپل حکم (ثالث) حضرت سعدبن معاذ ﷺ جوړکړو کوم چه د قبیله اوس سردار وو. بنوقریظه او اوس کښې د جاهلیت په زمانه کښې اتفاق اویوشان والې وو د یوبل ملګری وو په دې وجه د دې یهودیانوخیال وو چه حضرت سعد ﷺ به زمونږ لحاظ او خیال کوی لکه څنګه چه عبدالله بن ابي بن سلول بنوقینقاع خلاص کړې وو. بل طرف ته د حضرت سعد ﷺ داحال وو چه په جنګ خندق کښې د اکحل په رګ باندې یوغشې لګیدلې وو د کوم نه چه وینه روانه وه. رسول الله ﷺ د هغه په زخم باندې داغ لګولې وو اود جمات خیمې کښې پروت وو چه خواکې عیادت اود بیمارئی تپوس پوښتنه هم کوی. حضرت سعد ﷺ چه کومې دعاګانې اوکړې هغې کښې یوه دا دعاهم وه یاالله که اوس هم یوداسې جنګ پاتې وی په کوم کښې چه کافران اوقریش ستا په نبی باندې حمله کوی نوته ما ژوندې اوساته زه به په هغې کښې شرکت اوکړم اوکه تایوداسې جنګ باقی نه دې ساتلې نوخیردې که زما د زخم نه وینه جاری وی خواې زما ربه ترکومې چه بنوقریظه ته دهغوی د سرکشئی سزا په خپلو سترګویخولوسره اونه کړم ته زما مرګ روستوکړه. د حضرت سعد ﷺ غوندې مستجاب الدعوات د دعاد قبلیدو شان ته ګوره هغوی دا دعاکوی اواخوا یهودیان بنوقریظه د هغوی په فیصله باندې رضامندی ښکاره کوی اوقلعه مسلمانانوته حوال کوی. حضور ﷺ سړې لیګی او هغه د مدینې طیبه نه راغواړی چه ته راشه اود دوی باره کښې خپله فیصله واوروه.بدې په خرباندې راسور کړې شو اوټوله قبیله د اوس ورپوري اونختله چه ګوره حضرت خیال کوه بنوقریظه هم ستاسو سړی دی هغوی په تاسو باندې یقین کړې دې اوستا حلیفان دی. ستاد قوم د غم دردملګرې دی تاسو په دوی باندې رحم اوکړئی. هغوی سره په نرمئی سره مخ شئی. ګورئی دې وخت کښې د هغوی هیڅ څوک هم نشته اودا ستاسو په وس کښې دی وغیره. حضرت سعد ﷺ صرف خاموش وو اوهیڅ جواب ئی نه ورکولو. دې خلقو مجبور کړو چه جواب ورکړې خکه چه دوی نه پریخودلو. آخر هغوی اوفرمائیل چه اوس وخت راغلو چه سعد ﷺ د دې خبرې ثبوت ورکړې هغه ته د الله تعالی په لارکښې د یوملامت کونکی دملامتیاهیڅ پرواه نشته. دې اوریدو سره خود دې خلقو زړونه ډوب شو اوپوهه شو چه د بنوقریظه خیر نشته.

کله چه د حضرت سعد ﷺ سورلی هغه خیمې ته اورسیده کوم ځای چه جناب رسول کریم ﷺ تشریف فرما وو نوهغوی اوفرمائیل اې خلقو د خپل سردار د استقبال د پاره اودریږئی مسلمانان اودریدل اوهغه ئی په ډیر قدر او عزت سره په ډیراکرام اواحترام سره د سورلئی نه راکوز کړو. دا په دې وجه وو چه دې وخت کښې هغوی د حکم (ثالث) په حیثیت سره وو د هغوی فیصله به پوره توګه باندې نافذ ګنړلې شوه. د هغوی کیناستو سره نبی کریم ﷺ اوفرمائیل داخلق ستا په فیصله باندې رضامندی اود قلعه نه راوتی دی. اوس چه تاسو د دوی باره کښې څنګه حکم کوئی اوکړئی هغه اووئیل چه زه کوم حکم په دې باندې اوکړم هغه به پوره کولې شی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل او ولې نه. ونی وئیل اود دې خیمې والا باندې به هم د دې پوره کول ضروری وی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل یقیناً هغوی وئیل د دې طرف والا باندې هم؟ هغه طرف ته ئی اشاره اوکړه کوم طرف ته چه پخپله رسول الله ﷺ موجود وو. خود حضور ﷺ طرف ته ئی اونه کتل د هغوی دبزرګیی اوعظمت په وجه سره. حضور ﷺ جواب ورکړو اود دې طرف والا ته هم. هغه اوفرمائیل اوس زما فیصله واورئی. زه وایم چه په بنو قریظه کښې څومره د جنګ والا خلق دی هغه قتل کړئی اودهغوی اولاد قیدکړئی د هغوی مالونه په قبضه کښې واخلئی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل اې سعد ﷺ تا په دوی باندې هغه حکم اوکړو چه کوم حکم الله تعالی په دوی

Scanned with Ca

باندې د اووه اسمانونود پاسه کړې دي. يوروايت کښې دی حضور ﷺ اوفرمانيل تاد ربښتونی مالك الله تعالی چه کوم حکم وو هم هغه واورلو.

بيادَ حضور ﷺ په حکم سره خندقونه اوکنستلې شو اوهغوی نی ترلې راوستل اودَ هغوی ستونه نی والوزول دوی په شمير کښې اوه اته سوه وو. د هغوی ښځې اوماشومان بچی واخستلې شو. مونږ دا ټول واقعات په کتاب السير کښې ښه په تفصيل سره ليکلې دی. والحمدلله.

د بنو قريظه ذليله کيدل: فرمائی چه کومو اهل کتابو يعنی يهوديانو دَ کافرانودَ لښکرو شاباسې کولو او دَ هغوی ملګرتيائی کوله دَهغوی نه هم الله تعالی دَ هغوی قلعه ګانې خالی کړې. دَ دې قوم بنو قريظه لوئ سردار دَ کوم نه چه دَ هغوی نسل جاری شوې وو په وړاندې زمانه کښې راغلې وو په حجاز کښې په دې طمع کښې ابادشوې وو چه دَ کوم نبی آخرزمان ﷺ پيشنګوئی زمونږ په کتابونوکښې ده هغه هم دلته کيدونکې دې نومونږ به دَ ټولونه اول دَ هغوی دَ تابعدارئې په نيک بختئې کښې مسعودشو. خودې ناخلفو چه کله هغه نبی ﷺ راغلو دَ هغه تکذيب نی اوکړو دَ څه په وجه چه دَ الله تعالی لعنت په دوی باندې نازل شو. دَ (صياصی) نه مراد قلعه ګانې دی.(۱) هم دَ دې معنې په اعتبارسره ښکروته هم صياصی وائی. داځکه چه دَ ځناور په ټول بدن کښې هم دا دَ ټولودَ پاسه وی. د هغوی په زړونو کښې الله تعالی رعب واچولو. مسلمانان نی دَ بيخه ويستل غوښتل خوالله تعالی معامله دوې خلاف اوکړه اولټه شوه طاقت نی کمزورې شو کاميابې په ناکاميابئی سره بدله شوه نقشه ورانه شوه او ملګری اوتختيدل. دوی بې پښولاسونوپاتې شو. دعزت خواهش ورته ذلت اوخودلو. دَ مسلمانانو برباډولو اودَ هغوی دَ اوړه کولو په خوشحالئی کښې نی خپل ځان اوړه کړو او اوس لا دآخرت بدنصيبی روستو ده. څه قتل کړې شو اوڅه قيدکړې شو. د عطيه قرظی بيان دې کله چه زه حضور ﷺ ته پيش کړې شوم نوزما باره کښې حضور ﷺ ته څه خيال راغلو وئی فرمانيل دې ځان له کړئی ګورئی که دَ ده دَ نوم لاندې ويښته وی نو قتل نی کړئ ګنی په قيدکښې کينوئ. وئی کتل نوزه ماشوم ووم ژوندې نی پريخودم.(۲) د هغوی د زمکې دهغوی د کورونو دَ هغوی دمالونو مالکان مسلمانان شو بلکه هغه زمکې هم چه تراوسه پورې پرته وه اوکوم ځائ چه دَ مسلمانانو قدمونه هم نه وو رسيدلی. يعنی د خيبرزمکه يا دَ مکې مکرمې زمکه يادَ فارس زمکه يادَ روم زمکه اوممکن دی چه دا ټولې تری مراد وی. الله تعالی دَ لويو قدرتونو مالك دې.(۳)

غزوهٔ خندق کښې د صحابه کرامو بهادری او دسعد ﷺ فيصله: مسند احمد کښې دَ حضرت عائشه صديقه ﷺ بيان دې چه دَ خندق په ورځ زه اووتلم چه دَ لښکر څه حال معلوم کړم نوماخپل ځان پسې شاته د يولوئ زور سره راتلونکی کشار واوريدو اودَ هغه دَ وسلې ګرنګارمې واوريدو. زه دَ لارې نه اخواشوم يوطرف ته کيناستم چه اومې کتل نوحضرت سعدبن معاذ ﷺ دَ لښکر طرف ته روان دې اوهغه سره د هغه رور حارث بن اوس وو د هغه په لاس کښې د ده ډال وو. حضرت سعد ﷺ دَ اوسپنې زغره اچولې وه خو ډير غټ وو زغره نی په پوره بدن باندې نه وه راغلې لاسونه نی کولاو ووشعرونه نی وئيل اوپه تاويدو اوخوندکښې روان وو. زه د دې ځائ نه لږه نوره وړاندې لاړم اويوې باغيچې ته لاړم هلته څه مسلمانان موجود وو په هغوی کښې حضرت عمر بن خطاب ﷺ هم وو اويوصاحب چه په ځان نی څه اچولې وو. حضرت عمر ﷺ زه اوليدم او بيا څه وو چه ډير وران شو اووئی فرمانيل دا بهادری ته نه

---

(۱) الطبری: ۲۰/۲٤۹.

(۲) ابوداؤد کتاب الحدود باب فی الغلام يصيب الحد: ٤٤٠٤ وسنده صحيح، ترمذی: ۱۵۸٤، نسائی: ۳٤٦۰، ابن ماجه: ۲٥٤۱، احمد: ٤/۳۱۰، ابن حبان: ۳۷۸.

(۳) الطبری: ۲۰/۲٥۰.

پیژني دلته جنګ کیږی؟ الله تعالی ته معلومه ده چه څه نتیجه به وی؟ ته دلته څنګه راغلې؟ وغیره وغیره. غرض داچه زه نی دومره ملامته کړم اوما وئیل چه دازمکه اوشلیږی اوزه په کښې ورننوخم. کوم صاحب مغفر(د اوسپنې توپې سره) مخ پټ کړې وو هغه د عمر فاروق ﷺ دا خبرې واوریدې د سرنه نی د اوسپنې توپې کوزه کړه اومې کتل نو ما اوپیژندو چه دا خو حضرت طلحه بن عبیدالله ﷺ وو. هغه حضرت عمر ﷺ چپ کړو چه څه له نی ملامته کوې د نتیجه څه ویره ده؟ ولې ته دومره ویریږې چه څوك به اوتختی وئیل ټول هرڅه د الله تعالی په لاس کښې دی. حضرت سعد ﷺ ته یوقریشی شیش واخستو او یوغشې نی اوویشتلو اووئیل واخله زه ابن عرقه یم. د حضرت سعد ﷺ د اکحل په رګ باندې هغه غشې اولګیدو او هم هلته ورخښ شو. د وینو داړې تړې روانې شوې هغه وخت هغه دعااوکړه یاالله ما مه وژنه ترکومې چه د دې بنوقریظه تباهی په خپلو سترګو اونه وینم. د الله تعالی شان دې چه هم هغه وخت وینه اودریده. مشرکان هواګانو اوتختول او مسلمانانوته الله تعالی کفایت ورکړو. ابوسفیان اود هغه ملګری خو اوتختیدل او تهامه ته لاړل. عیینه بن بدر اود هغه ملګری نجد ته لاړل. بنوقریظه خپلې قلعه ته لاړل رابندشو. میدان نی خالی اولیدو نو رسول الله ﷺ مدینې ته تشریف راوړو. د حضرت سعد ﷺ د څرمن یوه خیمه اولګولې شوه. هم هغه وخت حضرت جبرائیل ﷺ راغلو او په مخ نی دوړې وې وئی فرمائیل تاسو وسله کولاوکړه اوفربښتې خو تراوسه پورې وسله ترلې دی. پاڅه د بنوقریظه هم فیصله اوکړه او په هغوی باندې حمله اوکړه. حضور ﷺ زر وسله اوترله او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته نی هم د روانیدو اعلان اوکړو. د بنوتمیم کورونه د مسجد نبوی ﷺ سره نیزدې وو په لاره نی د هغوی نه تپوس اوکړو ولې رونړو؟ څوك مو په تلولیدلی؟ هغوی وئیل او اوس اوس حضرت دحیه کلبی ﷺ لاړو. حالانکه هغه حضرت جبرائیل ﷺ وو خود هغوی ډیره اومخ بالکل د حضرت دحیه ﷺ په شان وو.

اوس حضور ﷺ لاړو اود بنوقریظه د قلعه محاصره نی اوکړه. کله چه هغوی اوویریدل او تنګ شو نو هغوی ته نی اووئیل مونږ ته قلعه راکړئی اوتاسو هم زمونږ لاس له راشئی رسول الله ﷺ چه څه غواړی ستاسو په حق کښې به فیصله اوکړی. هغوی حضرت ابولبابه بن عبدالمنذر ﷺ سره مشوره اوکړه نو هغوی اشاره اوکړه چه په دې صورت کښې د خپل ځان نه لاس اووینځئی. هغوی دامعلومه کړه او دائی نامنظوره کړه اووئی وئیل مونږ قلعه خالی کوو ستاسو فوځ ته قبضه درکوو. زمونږ باره کښې مونږ خپله فیصله حضرت سعد ﷺ ته ورکوو. حضور ﷺ دا منظورکړه بیائی حضرت سعد ﷺ راوغوښتوهغوی تشریف راوړو او په خر باندې سور وو په کوم چه د کهجورو د پانړو ګدئی وه. هغه په دې باندې ډیر په ګرانه باندې سور کړې شوې وو. د هغه قوم هغه راګیرکړې وو او پوهه کول نی چه ګوره بنوقریظه زمونږ ملګری دی زمونږ دوستان دی زمونږ د مرګ اوژوند شریکان دی. د هغوی چه کوم تعلقات دی هغه تاسو نه پټ نه دی. هغوی په خاموشئی سره د ټولو خبرې اوریدلې کله چه د هغوی محلې ته اورسیدل نودهغوی طرف ته نی نظر واچولو چه اوس وخت راغلو چه زه دالله تعالی په لارکښې دیو دملامت کونکی د ملامتیا هیڅ پرواه اونه کړم.

د فیصلې کولو نه پس سعد ﷺ خپله خیمه کښې شهید شو: کله چه دحضور ﷺ خیمې ته د هغه سورلی راورسیده نو حضور ﷺ اوفرمائیل د خپل سردار طرف ته ورپاڅئی اوهغه په آرام سره راکوزکړئی. حضرت عمر ﷺ اووئیل زمونږ سید خو الله تعالی دی. حضور ﷺ اوفرمائیل راکوزئی کړئی. خلق یوڅای شو اود سورلئی نه نی راکوزکړو. حضور ﷺ اوفرمائیل سعد ﷺ د دوی باره کښې چه کوم حکم کول غواړې اوکړه؟ هغوی اووئیل د دوی مشران به قتل کولې شی د دوی واړه به قیدکولې شی اود دوی مال تقسیم کړئی. حضور ﷺ اوفرمائیل سعد ﷺ تا په دې حکم کښې د الله تعالی اود هغه د رسول ﷺ پوره موافقت اوکړو. بیا حضرت سعد ﷺ دعا اوغوښتله چه یاالله که ستا په نبی ﷺ باندې د قریشو څه

حمله اوس هم باقی وی نو ما په هغې کښې د شاملیدلو د پاره ژوندې اوساته ګنی خپل طرف ته مې اوغواړه. هم هغه وخت د زخم نه وینه روانه شوه اوسره د دې چه زخم نی ډک شوې وو هسې لږ شان باقی وو. هغه بیا هم هغه خیمې ته واپس کړې شو اوهم هلته شهید شو. پخپله حضرت رسول مقبول ﷺ اوهغوی سره حضرت ابوبکر ؓ او حضرت عمر ؓ وغیره هم هلته راغله ټولو ژړل او ما د حضرت ابوبکر ؓ اود حضرت عمر ؓ په آوازکښې فرق هم کولې شو. هغه وخت زه په خپله حجره (کمره) کښې ووم. په حقیقت کښې د رسول الله ﷺ صحابه کرام ؓ داسې وو لکه چه الله تعالی فرمانیلی ﴿ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ۫ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ۭ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۾ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْئَهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰي سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ۭ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝﴾ په خپل مینځ کښې د یوبل سره پوره محبت اومینه ساتله. حضرت علقمه ؓ تپوس اوکړو ام المؤمنین داخوراته اوفرمانې چه رسول الله ﷺ به څنګه ژړل؟ ونی فرمانیل د حضور ﷺ سترګو به په چاباندې هم اوښکې نه بهیولې اودغم اوخفګان په موقعه به هغوی ﷺ خپله ډیره مبارکه په خپل موتی کښې نیوله.(۱)

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ	قُلْ	لِّاَزْوَاجِكَ	اِنْ كُنْتُنَّ	تُرِدْنَ	
اے نبی	اووایه	نبځو خپلو ته	که یئ تاسو	چی غواړی	
ائې نبی ﷺ خپلو بیبیانو ته اووایه	چې که تاسو د دنیا د				
الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا	وَزِيْنَتَهَا	فَتَعَالَيْنَ	اُمَتِّعْكُنَّ	وَاُسَرِّحْكُنَّ	
ژوند	ددنیا	او ښائیست دهغې	نو راشئ	چی څه سامان درکړم	تاسو له
او پریږدم تاسو					
ژوند خوندونه اوددې ډول سنګار غواړئ	نو راځئ چې زه درله څه لږ ډیر سامان درکړم				
او ښه					
سَرَاحًا جَمِيْلًا ۝	وَاِنْ كُنْتُنَّ	تُرِدْنَ اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَالدَّارَ	
په پرېښودلو	ښائست سره	او که یئ تاسو	چی غواړئ الله	او رسول دهغه	او کور
په مناسبه طریقه مو رخصت کړم	اوکه تاسو الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ او آخرت غواړئ				
نو					
الْاٰخِرَةَ	فَاِنَّ اللّٰهَ	اَعَدَّ	لِلْمُحْسِنٰتِ	مِنْكُنَّ اَجْرًا	
داخرت	نو بیشکه چی الله	تیار کړې دی	دپاره دنیک عمله ښځو	ستاسو نه اجر	
الله ﷻ په تاسو کښې نیکو بیبیانودپاره ډیر لوئې اجر تیار کړې دې					
عَظِيْمًا ۝					
لوئ					

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ

د امهات المؤمنین فضائل:- په دې آیاتونوکښې الله تعالی خپل نبی کریم ﷺ ته حکم ورکوی چه خپلو بیبیانوته په دووخبروکښې دیوې دقبلولواختیارورکړه. که تاسوپه دنیااود دې په ځیزونو باندې پسخیږئ نو راشئ چه زه تاسو د خپلې نکاح نه جداکړم. اوکه تاسو په تنګدستئ باندې دلته په

---

(۱) احمد:۲/۱۴۱-۱۴۲، صحیح بخاری کتاب المغازی باب مرجع النبی ﷺ من الاحزاب....:۴۱۲۲، صحیح مسلم:۱۷۶۹مختصرًا، ابن حبان:۷۰۲۸.

صبر کولو سره د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ مرضئ اورضامندی غواړئ اود اخرت رونق مو خوښ دي نو په صبر اوبرداشت باندي ماسره ژوندتیرکړئ الله تعالی به تاسو له دهغه خائ نعمتونه درکړي. الله تعالی دي د حضور ﷺ د ټولوبیبیانونه خوشحاله شي چه زمونږ مینديِ دی ټولو الله تعالی د هغه رسول ﷺ اوآخرت خوښ کړو په کومې چه رب راضی شو بیا د آخرت د خوشحالوسره ئی د دنیا خوشحالئی هم ورکړي. دحضرت عائشه رضی الله عنها بیان دي د دي آیت په نازلیدو باندي د الله تعالی نبی ﷺ ماله راغلو چه زه د یوي خبري تاسره ذکر کونکي یم ته په جواب ورکولو کښې تندی مه کوه خپل مورپلارسره مشوره اوکړه. بیاحضور ﷺ داآیت لوستلو ما زر جواب ورکړو یا رسول الله ﷺ په دي کښې د مور پلار سره د مشورې کولو هیڅ حاجت نشته زما الله تعالی خوښ دي زما رسول الله ﷺ خوښ دي اود آخرت کور مې خوښ دي. دحضور ﷺ ټولو بیبیانو هم داسې اوکړه کوم چه ماوکړه. (۱) یوبل روایت کښې دی چه دري خل حضوراکرم ﷺ حضرت عائشه رضی الله عنها ته اوفرمائیل چه ګوره بغیرد مور پلار د مشورې نه څه فیصله مه کوه.

بیاچه کله حضور ﷺ زماجواب واوریدو نوخوشحاله شو اومسکي شو. بیاحضور ﷺ د نورو بیبیانو حجرو کمرو ته تشریف یوړو هغوی ته ئی د اول نه دا اوفرمائیل چه عائشه صدیقه رضی الله عنها دا جواب ورکړي دي هغوی به وئیل هم دغه جواب زمونږه هم دي فرمائی چه د دي اختیار نه پس کوم چه مونږ اختیارکړو نودا اختیار په طلاق کښې شمیر نه شو(۲) مسنداحمدکښې دی حضرت ابوبکر ﷺ دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضریدل غوښتل خلق د حضور ﷺ په دروازه کښې ناست وو اوحضور ﷺ دننه تشریف فرماوو اجازت ملاو نه شو. په دي کښې حضرت عمر ﷺ راغلو هغه هم اجازت اوغوښتو خو ملاونه شو. لږ ساعت پس ئی دواړه رایادکړل. چه لاړل نو وئی کتل د حضور ﷺ بیبیانې حضور ﷺ سره ناستې دی اوحضور ﷺ چپ دي. حضرت عمر ﷺ وئیل ګورئی زه د الله تعالی رسول ﷺ خندوم. بیائی وئیل یارسول الله ﷺ افسوس چه تاسوکتلي زما بی بی نن زمانه پیسې غوښتلي ماسره نه وي کله چه ئی زیات ضد شروع کړو نوزه پاسیدم او د هغې څټ مې تاؤ کړم دي اوریدو سره حضور ﷺ مسکي شو او وئی فرمائیل دلته هم دغه قصه ده ګوره دا ټولې ناستې دی مانه مال غواړی. حضرت ابوبکر ﷺ د عائشه رضی الله عنها طرف ته ورټوپ کړو اوحضرت عمر ﷺ د حضرت حفصه رضی الله عنها طرف ته وئی فرمائیل افسوس دي تاسو د رسول الله ﷺ نه هغه څیز غواړئی چه هغوی سره نشته. هغه خو خیر تیره شوه رسول الله ﷺ هغوی رامنع کړل ګنی دواړو بزرګانو خو خپلې لونړه وهلې. اوس دي ټولوبیبیانو وئیل چه بنه ده غلطي اوشوه بیا به مونږ حضور ﷺ داسې هیڅ کله هم نه تنګوو. بیادا آیاتونه نازل شو اود دنیا اوآخرت د خوښولو اختیارئی ورکړو. دټولو نه اول حضور ﷺ حضرت صدیقه رضی الله عنها له تشریف یوړو هغې آخرت خوښ کړو لکه څنګ چه په تفصیل سره تیرشو. دي سره ئی دادرخواست هم اوکړو یارسول الله ﷺ تاسوخپلې یوې بی بی ته هم دا مه فرمائې چه ما دا اختیارکړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی زه د پټولود پاره نه یم رالیګلي بلکه زه ئی خودلو د پاره آسانی راوستلود پاره رالیګلي یم مانه خو چه څوک ټپوس کوي زه به صفا صفا وایم. (۳) د حضرت علي ﷺ فرمان دي د طلاق اختیار ئی نه ورکړي بلکه د دنیااویاد آخرت د ترجیح اختیار ئی ورکړي وو. (۴) خود دي په سند کښې هم انقطاع ده اودا د آیت د

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله ﴿یاایهاالنبی قل لازواجك ان کنتن.....﴾:۴۷۸۵-۴۷۸۶، صحیح مسلم: ۱۴۷۵.

(۲) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب من خیر ازواجه:۵۲۶۲، صحیح مسلم:۱۴۷۷.

(۳) احمد:۳/۳۲۸، صحیح مسلم: کتاب الطلاق باب بیان ان تخییره امرأة لایکون طلاقا الابالنیة: ۱۴۷۸.

(۴) احمد:۱/۷۸

ظاهری الفاظوهم خلاف ده خکه چه د اول ایت په اخر کښې صفاموجود دی چه راشئی زه تاسو له ستاسو حقونه درکړم اوتاسو آزادې کړم. په دې کښې دعلماؤاختلاف دې چه که حضور ﷺ طلاق ورکړی نو بیا هغوی سره نکاح جائزده که نه؟ خوصحیح قول دا دې چه جائز ده چه په دې سره د طلاق هغه نتیجه ملاوشی یعنی د دنیاغوښتنه د دنیا ښائست اورونق هغوی ته حاصل شی. والله اعلم. کله چه داآیت نازل شو اود دې حکم کله حضور ﷺ ازواج مطهرات امهات المؤمنین رضی الله عنهن ته واورلو هغه وخت کښې د حضور ﷺ نهه بیبیانې وې. پنځه قریشیه، عائشه حفصه ام حبیبه سوده اوام سلمه رضی الله عنهن او صفیه بنت حیی چه د قبیله نضیر وه اومیمونه بنت حارث چه هلالیه وه اوزینب بنت جحش کومه چه اسدیه وه اوجویریه بنت حارث رضی الله عنهن کومه چه مصطلقیه وه. (۱)

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ	مَنْ يَّاْتِ	مِنْكُنَّ	بِفَاحِشَةٍ	مُّبَيِّنَةٍ
اے ښځو دنبی	هغه څوك چې راشي	ستاسو نه	کار دبې حیایئ	ښکاره ته
.....ائې دپیغمبر بیبیانو په تاسو کښې چې څوك ښکاره ګناه اوکړی				نو هغې ته به
يُّضٰعَفْ	لَهَا	الْعَذَابُ	ضِعْفَيْنِ ؕ	وَكَانَ	ذٰلِكَ
دوچند به ورکړې کیږی	هغې ته	عذاب	په دوچند والی سره	او دې	دا کار
دوه چنده سزا ورکولې شی					.....زاودا کار الله ﷻ ته
عَلَى اللّٰهِ	يَسِيْرًا ۝				
په الله باندې	آسان				
ډیر آسان دې					

قوله تعالی:: يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

امهات المؤمنین ته وعظ او نصیحت :- د حضور اکرم ﷺ بیبیانویعنی د مؤمنانو میندوچه کله الله تعالی اودهغه رسول ﷺ اود آخرت ښکلې کور خوښ کړاود حضور ﷺ په کور کښې د همیشه د پاره کیناستې نو اوس جناب الله عزوجل هغوی ته په دې آیت کښې وعظ کوی او ورته ښائی ستاسو معامله د عامو ښځو په شان نه ده. که فرض کړه تاسو د حضور ﷺ په تابعدارئی کښې کوتاهی اوکړه اویاتاسو نه څه بداخلاقي اوشوه نوتاسو ته به په دنیااوآخرت کښې سزا وی. خکه چه ستاسو ډیرې لوئې درجې دی تاسو له د ګناه نه هم ډیر لرې کیدل پکاردی ګنی د مرتبې په شان به سختی هم زیاته وی. الله تعالی ته تولې خبرې آسانې دی دایادداستل پکاردی چه دا فرمان د شرط په توګه دې اود شرط واقع کیدل ضروری نه دی لکه چه ارشاد دې ﴿لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ۝﴾ (۲)ای نبی که تاشرک اوکړونوستا اعمال به بې کاره شی. د نبیانو ذکر کولوسره فرمائی ﴿ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ۝ (۳) که دوی شرك اوکړی نود دوی نیکئی به بیکاره شی. بل آیت کښې دی ﴿ قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ ۖ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ۝﴾ (۴)که د رحمان اولاد وی نوزه به د تولونه اول عبادت کونکې شم. بل آیت کښې ارشاد

---

(۱) الطبری: ۲۰/۲۵۲.
(۲) ۳۹/الزمر: ٦٥.
(۳) ٦/الانعام: ۸۸.
(۴) ٤۳/الزخرف: ۸۱.

Scanned with Ca

دي ﴿لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ۝﴾ (۱) يعنى كه د الله تعالى اولادمنظوروو نوهغه چه په خپل مخلوق كښې څوك غوښتل خوښ كړې به ئې وو. هغه پاك دي يوازې دي يودي هغه غالب دي او په ټولو باندې حكمران دي. په دې پنځو وارو آياتونوكښې د شرط سره بيان دي خوداسې شوى نه دى نه د انبياؤكرامو نه شرك ممكن دي نه د رسولانو د سردار حضرت محمد مصطفى ﷺ نه داممكن دى نه د الله تعالى اولاد. دغه شان د امهات المؤمنين باره كښې هم دا چه كوم فرمائيلې شوى دى كه په تاسوكښې څوك بنكاره فضول حركت اوكړى نوهغې ته به دوه چنده سزا كيږى دي نه دامه ګنړئى چه واقعى به دوى كښې د يوې نه څه داسې نافرمانى اوبداخلاقى شوې وى. نعوذبالله.

﴿الحمدلله﴾ د يويشتمې سپارې تفسير ختم شو.

(۱) ۳۹/الزمر: ٤.

Scanned with Ca

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ

او هغه څوك چې اطاعت كوي(حكم منې) | ستاسو نه | دالله | او دهغه درسول | او عمل كوي
او په تاسو كښې چې څوك دالله ﷻ او دهغهٔ د رسول ﷺ تابعداري كوي | .....اونيك

صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا

نيك | وركوو به مونږ هغې لره | اجر دهغې | دوه ځله | او تيار كړي دي مونږ | هغې لره | رزق
عمل او كړي | نو مونږ به هغې ته ددې نه يو په دوه اجر وركړو | او د هغې دپاره مونږ د عزت

كَرِيْمًا ۝ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ

بښه | اے بښځو دنبي | نهٔ يئ تاسو | پشان ديوې بښځې | دعامو بښځونه | كه پريږئ تاسو دالله نه
رزق تيار كړي دي | اې د پيغمبر بيبيانو ! تاسو دنورو عامو بښځو په شان نه يئ | كه تاسو د الله نه ويريږئ

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ

نو مهٔ كوئ تاسو پوستوالي | په خبرو كښې | چې طمع پيدا شي | دهغه سړي | چې په زړه دهغه كښې
نو نرمي خبري مه كوئ | كنې د كوم سړي په زړه كښې چې د (فسق) مرض وي دهغه به درته طمع

مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۚ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ

مرض دي (خرابي ده) | اووايئ | خبره | سيده صفا | او قرار اونيسئ | په كورونو خپلو كښې |
پيدا شي | او صفا واضحه خبره كوئ | ..... او په خپلو كورونو كښې قلار ي

وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى

اوهمهٔ بنكاره كوئ زينت | پشان دښكاره كولو دزينت | دجاهليت ددور | رومبنى (پخوانى) |
ناستي اوسيرئى | او دجاهليت د تيرې زمانې په شان ډول سنگار مه ښايئ | اود مونځونو

وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا

او قائيموئ | مونځ | او وركوئ زكات | او حكم منى دالله | او درسول دهغه | بيشكه |
پابندى كوئ | او زكاة وركوئى | اودالله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ حكمونه منئ

يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ

غواړى الله | چې لرې كړى | ستاسو نه | گندگى (گناه) | اې خاندان د نبى | او پاك كړى تاسو
الله ﷻ ته دا منظوره ده | چې ستاسو نه هره پليتى لرې كړى | اې د پيغمبر دكور خلقو | او تاسو ښه

تَطْهِيْرًا ۝ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

په پاكولو سره | او ياد ساتئ | هغه | چې لوستلې كيږى | په كورونو ستاسو كښې | دايتونه دالله نه
پاكې اوساتى | .....او ستاسو په كورونو كښې چې دالله ﷻ ايتونه او د علم خبرې

وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ۝

او دحكمت نه | بيشكه الله | دي | باريك ليدونكي | خبردار |
لوستلې شى | هغه ياد ساتئ | بيشكه الله ﷻ په هر راز پوهه په هرشيز خبر دي |

قوله تعالی:- وَمَنْ يَّقْنُتْ

د فرمانبردارو دپاره دبل اجردي :-پدې آیت کښې الله ﷻ دخپل عدل اوفضل بیان فرمائی او د حضور کرم ﷺ ازواج مطهراتوته خطاب فرمائی چه ستاسوپه اطاعت اونیکوکارنی به تاسوته دبل اجر ملاویږی اوستاسودپاره په جنت کښې د عزت روزی ده. ځکه چه دابه دالله تعالی د رسول ﷺ د درجو په وجه وی اودحضور ﷺ درجات خو به په علیین کښې وی چه د ټولوخلقو نه به اوچت وی. هم د دې نوم وسیله ده. داد جنت د ټولونه اعلی اود ټولونه اوچت منزل دي د کوم چت چه د الله ﷻ عرش دي.

قوله تعالی:- يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ

د حضوراکرم ﷺ د بیبیانو اداب:- الله ﷻ دخپل خوږ نبی دبیبیانوآداب بنائی اوټولې بنځې ددوی ماتحت دی په دې وجه دا احکام د ټولو مسلمانانو بنځود پاره دی. فرمائی چه په تاسوکښې ځوک پرهیزګاری کوی هغه د ډیرې لوئی فضیلت اومرتبې والا ده. سړو سره چه کله تاسو له څه خبره کول پکاروی نو په آوازجوړولو سره خبره مه کوئی دچا په زړونوکښې چه بیماری ده دهغوی به طمع پیداشی بلکه بنه خبره اود دستور مطابق ئی کوئی. نوبنځوله د پردو سړو سره په مزه او بنکلې آواز کښې خبرې کول منع دی. په یوځای کیدو سره د مینې خبرې هغه صرف خپل خاوندسره کولې شی.

قوله تعالی:- وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ

بې دشرعی ضرورت نه دکور نه مه اوځئ:بیافرمائی بغیرد څه ضرورت د کار نه بهر ته مه اوځئ. جمات ته دمانځه دپاره راتلل هم شرعی ضرورت دي.لکه چه په حدیث شریف کښې دی دالله ﷻوینځې د الله ﷻ د جماتونونه مه بندوئی. خوهغوی له پکاردی چه سیدا ساده ځنګه چه په کورونو کښې وی دغه شان راشی(۱)په یوروایت کښې دی چه دهغوی دپاره کوربهتردي(۲)بزارکښې دی چه بنځې حاضرې شوې اورسول الله ﷺ ته ئی اووئیل د جهادوغیره ټول فضیلتونه خوسړو یوړل اوس تاسو مونږ ته هم څه عمل اوښائی په کوم سره چه مونږ د مجاهدینودرجې حاصلې کړې شو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه تاسو کښې ځوک په خپل کورکښې پرده کښې په عزت سره ناسته وی هغه به د جهادفضیلت حاصل کړی(۳)ترمذی وغیره کښې رسول الله ﷺ فرمائی بنځې دسر نه واخله ترپښوپورې د پردې ځیز دي. کله چه داد کور نه بهرقدم اوباسی نوشیطان ورته ګوری. دا د ټولونه زیاته هغه وخت الله ﷻ ته نیزدې وی کله چه دادکور په دننه کمره کښې وی.(۴) ابوداؤد وغیره کښې دی د بنځې دکور دننه کوټې مونځ د کورد مونځ نه بهتردي اود کوټې مونځ د کورد غولی صحن د مونځ نه بهتردي(۵) په جاهلیت کښې به بنځې بې پردې ګرځیدې. اوس اسلام بې پردګی حرام کړه په ناز اونخروسره ګرځیدل منع دی.لوټه ئی په مرئی کښې واچوله خو راغونډه ئی نه کړه د څه په وجه چه د مرئی اوغوږونوکالی دنورو په نظر راځی. دادجاهلیت سنګارورو د کوم نه چه په دې آیت کښې منع کړې شوی دی.

یو عجیبه روایت:- ابن عباس ﷺ وغیره نه روایت دي د حضرت نوح ﷺ اوحضرت ادریس ﷺ په مینځ کښې د زروکالو زمانه وه. په دې زمانه کښې دحضرت آدم ﷺ دوه نسلونه آبادوو یوپه غرباندې یوپه نرمه زمکه باندې. د غرونو خلق بنائسته وو اوبنځې توري وې اود زمکې بنځې بنائسته وې اود سړو رنګونه غنم رنګې وو. ابلیس د انسان په شکل کښې د هغوی د دهوکه کولو د پاره د نرمې زمکې

---

۱) ابوداؤد کتاب الصلاة باب ماجاء فی خروج النساء الی المساجد:۵۶۵وسنده حسن.

۲) ابوداؤدحواله سابق:۵۶۷وسنده صحیح.

۳) البزار:۱۴۷۵ابن حبان:۱۹۹/۱، مجمع الزوائد:۳۰۷/۴،مسندابی یعلی:۳۴۱۶،.

۴) ترمذی کتاب الرضاع باب استشراف الشیطان المراة اذا خرجت: ۱۱۷۳،.

۵) ابوداؤد کتاب الصلاة باب التشدیدفی ذلك:۵۷۰

خلقو له راغلو اود یوسړی غلام جوړشو اوسیدو بیا هغه د شپیلنی په شان یوځیز جوړکړو اوهغه به نی غږولو. ددې په آواز باندې خلق میین شو او راجمع شو. یوه ورځ د میلې مقرره کړې شوه چه په هغې کښې په زرګونو ښځې اوسړی راجمع شو. اتفاقی توګه باندې یوه ورځ یود غرسړې هم راغلو اود هغوی ښځې نی اولیدلې نو واپس لاړو او په خپلوخلقو کښې نی د هغوی ښائست نی مشهورکړو اوس هغه خلق په کثرت سره راتلل اوپه مزه مزه په سړو اوښځوکښې ګډوډوالې زیات شو اود بدکارئی او زناکارئی عام رواج اوشو.

قوله تعالی:- وَأَقِمْنَ الصَّلٰوةَ

د رسوم جاهلیت نه پس نور احکام:- هم دا د جاهلیت سنګار وود کوم نه چه دا آیت بندول کوی. د دې کارونود بندیدو نه پس اوس څه احکام بیانولې شی چه دالله ﷻ په عبادت کښې د ټولونه لوی عبادت مونځ دې.د دې پابندی کوه اودا په ډیر ښه شان سره اداکوئی.دغه شان دمخلوق سره هم نیك سلوك کوئی یعنی زکوة ورکوئی.د دې خاص احکامو ذکرکولوسره بیا په عام توګه ئی د الله ﷻ اود رسول الله ﷺ د فرمانبردارئی حکم ورکړو. بیائی اوفرمائیل الله ﷻ ددې اهل بیتو دهر قسم خیری لرې کولو اراده کړې ده هغه به بالکل تاسو پاك صاف کړی.

اهل بیت نه مراد څوک دی؟:- دا آیت په دې خبره باندې نص دې چه د رسول الله ﷺ بیبیانې د دې آیاتونو په وجه په اهل بیت کښې داخلې دی.ځکه چه دا آیت هم د دوی باره کښې نازل شوې دې. د آیت شان نزول خو د آیت په حکم کښې داخل وی.بعضې وائی چه صرف هغه داخلیږی اوبعضې وائی هغوی هم او د هغوی نه سوا هم اودا دویم قول ډیر صحیح دې. حضرت عکرمه رحمه الله خو به په بازارونوکښې آواز کولو سره ګرځیدل. چه دا آیت د حضور ﷺ د بیبیانو باره کښې په خاص توګه نازل شوې دې. (ابن جریر)ابن ابی حاتم کښې دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه هم دا روایت دې اوعکرمه رحمه الله خوتردې خائ پورې فرمائی چه څوك غواړی ماسره دې مباهله اوکړی دا آیت هم د حضور ﷺ د بیبیانود شان باره کښې نازل شوې دې[1] که د دې قول نه دا مطلب دې چه شان نزول هم دا دې بل نه دې نودا ټیك دی او که چرې د دې نه مراد داوی چه په اهل بیتوکښې ددوی نه سوا بل څوك داخل نه دی نوپدې کښې نظر دې ځکه چه په احادیثوکښې د اهل بیتو کښې د ازواج مطهرات رضی الله عنهن نه بغیر نورهم داخل دی. مسنداحمد اوترمذی کښې دی رسول الله ﷺ چه به کله د سحر مانځه له وتلو نود حضرت فاطمه رضی الله عنها دروازې ته به چه اورسیدونو فرمائیل به ئی ای اهل بیت د مانځه وخت اوشو بیا به ئی د دې پاك آیت تلاوت کولو[2] امام ترمذی رحمه الله دی ته حسن غریب وائی.دابن جریر رحمه الله هم پدې یوحدیث کښې د اووه میاشتو بیان دې. په دې کښې یوراوی ابوداؤد اعمی نفیع بن حارث کذاب دې. داروایت ټیك نه دې.

د اهل بیتو فضیلت او ددې متعلق احادیث:- مسند کښې دی چه شدادبن عماروائی زه یوځل حضرت واثله بن اسقع ﷺ له لاړم. هغه وخت هلته څه نورخلق هم ناست وو اود حضرت علی ﷺ ذکر کیدلو هغه دوی ته بدې ردې ونیلې.ماهم دهغوی ملګرتیااوکړه.کله چه هغه خلق لاړل نوماته واثله ﷺ اوفرمائیل تاهم د حضرت علی ﷺ په شان کښې د ګستاخئی الفاظ اووئیل؟ ماوئیل اوماهم د ټولو په ژبه کښې خپله ژبه یو خائ کړه. وئی فرمائیل چه واوره ماچه څه لیدلی دی هغه تاته اوروم. یوه ورځ دحضرت علی ﷺ کور ته لاړم نومعلومه شوه چه هغوی دحضوراکرم ﷺ مجلس ته تلی دی. زه د هغوی په انتظارکښې کیناستم لږساعت پس مې اوکتل چه رسول الله ﷺ حضرت علی ﷺ حضرت حسن رضی الله عنه اوحضرت حسین

---

[1] الطبری: ۲۶۷/۲۰.

[2] احمد:۲۵۹/۳، ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة الاحزاب:۳۲۰۶مسندابی یعلی:۳۹۷۸، مسندالطیالسی:۲۰۵۹، المعجم الکبیر: ۲۶۷۱، مشکل الاثار: ۷۷٤،

Scanned with Ca

ﷺ راروان دی. دواړو ماشومانودهغوی ګوته نیولې وه. حضورﷺ خو حضرت علی ؓ اوحضرت فاطمه ؓ خپلې مخې ته کینول اودواړه نمسی په خپلو پښوباندې کینول او یوه کپړه ئې پرې واچوله بیائی د دې آیت تلاوت اوکړو ونې فرمائیل ای الله ﷻ هم دا دی زما اهل بیت اوزما اهل بیت ډیر حق دار دی.(۱) په دویم روایت کښې دومره زیاتوالی هم دې چه حضرت واثله ؓ فرمائی ماچه دااولیدل نواومې ونیل یارسول اللهﷺ زه هم ستاسو د اهل بیتونه یم حضورﷺ اوفرمائیل اوته هم زماداهل بیتونه ئې حضرت واثله ؓ فرمائی چه د رسول اللهﷺ دا فرمان زما د پاره ډیر لوی د امیددی(۲) یوبل روایت کښې دی حضرت واثله ؓ فرمائی زه حضورﷺ سره ووم چه حضرت علی ؓ حضرت فاطمه ؓ حضرت حسن ؓ حضرت حسین ؓ راغله. حضورﷺ خپل څادر په هغوی باندې واچولو ونې فرمائیل ای الله دا زما اهل اوعیال دې ای الله ﷻ دوی نه ناپاکی لرې کړه اودوی پاک کړه. ما ونیل زه هم. حضورﷺ اوفرمائیل اوته هم. زما په نیزدتولونه زیات مضبوط عمل زما هم دا دی.(۳)

مسنداحمدکښې دی حضرت ام سلمه ؓ فرمائی حضورﷺ زماپه کورکښې ووحضرت فاطمه ؓ شیره یوه ډکه پتیله راوړه نو حضور اوفرمائیل چه خپل خاوند او خپل دواړوماشومان هم راوغواړه نو هغوی هم راغله او خوراک ئې شروع کړو. حضورﷺ په خپله بستره باندې وو لاندې ئې د خیبر یوڅادر خورکړې وو. ما په کوټه کښې مونځ کولو چه دا آیت نازل شو. حضورﷺ په هغوی باندې څادر واچولو او د څادرنه ئې یولاس رابهرکړواود آسمان طرف ته ئې اوچت کړو اودا دعائی اوغوښتله یاالله دا زما اهل بیت اوحمایتیان دی ته ددوی نه ناپاکی لرې کړه اودوی ښکاره کړه.ماخپل سر دکوټې نه رابهر کړو اومې ونیل یارسول الله ﷺ زه هم تاسو تولو سره یم.حضوراکرم ﷺ اوفرمائیل یقینا ته بهترئی طرف ته ئې فی الواقع ته د خیرطرف ته ئی(۴) په دې روایت کښې دعطاء د استاذ نوم نشته چه معلومه شی چه هغه څنګه راوی دې باقی راویان ثقه دی. په بل سندسره هم د دې ام سلمه ؓ نه روایت دې چه یوځل د هغې په وړاندې د حضرت علی ؓ ذکرراغلو نوهغې ونیل چه آیت تطهیرخوزما په کورکښې نازل شوې دې.حضورﷺ زماکورته راغلواوونی فرمائیل چه بل چاته کورته د راتلواجازت مه ورکوه. لږ ساعت پس حضرت فاطمه ؓ راغله اوس به ښه ده ما لورد پلار نه څنګه منع کوله بیاحضرت حسن ؓ راغلونمسې د نیکه نه څوک منع کړی؟بیاحضرت امام حسین ؓ راغلوماهغه هم منع نه کړو. بیا حضرت علی ؓ راغلو نوهغه مې هم منع نه کړې شو. کله چه دا ټول راجمع شو نو حضورﷺ چه کوم څادراغوستې وو هم په هغې کښې ټول راپټ کړل اووئی فرمائیل یاالله دازما اهل بیت دی دوی نه پلیتی لرې کړې اودوی ښه پاک صفاکړې. نودا آیت هم هغه وخت نازل شو کله چه دوی په څادر کښې راجمع شوې وو. ماوئیل یارسول الله ﷺ زه هم. پته نه لګی چه رسول الله ﷺ په دې خوشحاله نه شو او ونې فرمائیل ته دخیرطرف ته ئی.

دمسندپه یوبل روایت کښې دی چه زما په کورکښې نبی کریم ﷺ موجود ووچه خادم راغلو خبرئی اوکړو چه حضرت فاطمه ؓ اوحضرت علی ؓ راغلی دی. حضورﷺ ماته اوفرمائیل یوطرف ته شه زما اهل بیت راغله. زه د کور په یو ګوټ کښې کیناستم کله چه هغه دواړه ماشومانو اودې دواړو حضراتو تشریف راوړو حضورﷺ دواړه ماشومان په غیږ کښې واخستل اومینه ئې ورسره اوکړه یو لاس ئې د حضرت علی ؓ اوبل د حضرت فاطمه ؓ په ست کښې واچولو اودواړو سر ئې هم مینه اوکړه او

---

(۱) احمد:۱۰۷/٤،مسندابی یعلی، طبرانی:۲۶۷۰، بیهقی:۱۵۲/۲، حاکم:۱٤۷/۳.
(۲) تفسیرابن جریر:٦/۲۲
(۳) المعجم الکبیر:۲٦٦۹ مجمع الزوائد:۱٦۸/۹.
(٤) احمد:۲۹۲/٦وهو حدیث صحیح.

Scanned with Ca

په ټولو نې يوتور څادر واچولو وئې فرمائيل اې الله ستا طرف ته نه چه د اور طرف ته زه اوزما اهل بيت. ماوئيل زه هم؟وئې فرمائيل اوته هم(۱) په يوبل روايت کښې دی چه زه دې وخت کښې د کور په دروازه کښې ناسته ووم اوما وئيل يارسول الله ﷺ آيازه په اهل بيتوکښې يم حضورﷺ اوفرمائيل چه ته د خير طرف ته ئې اود نبی په بيبيانوکښې ئې. يوبل روايت کښې دی چه ما وئيل ما هم په دوی کښې شامله کړه نووئې فرمائيل ته زما اهل ئې. د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها نه روايت دې چه حضورﷺ يو توردچادر په سرکړو او هم سحر سحر اووتلو اودا څلورواړه ئې په خپل څادر کښې راپټ کړل اودا آيت ئې اولوستلو(۲)دعائشه رضی الله عنها نه د علی ﷺ باره کښې چاتپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائيل هغه رسول الله ﷺ ته د ټولونه زيات خوښ دې د هغوی په کورکښې د حضورﷺ لوربی بی ده چه د ټولونه زياته دحضور ﷺ محبوب اوخوښه وه.بيائی دڅادر واقعه بيان کړه اووئې فرمائيل چه زه نيزدې ورغلم اومې وئيل يا رسول الله ﷺ زه هم ستاداهل بيتو نه يم وئې فرمائيل لرې شه ته خويقينا په خيرباندې ئې.

د حضرت ابوسعيدﷺ نه روايت دې چه حضورﷺ اوفرمائيل زماأود دې څلوروباره کښې دا آيت نازل شوې دې. يوبل سندسره دا د ابوسعيدﷺ خپل قول مراد دې. والله اعلم. حضرت سعد ﷺ فرمانی کله چه په حضورﷺ باندې وحی نازل شوه نوحضورﷺ دا څلور واړه په خپله کپړه کښې واخستل اووئې فرمائيل ياربه دا زما اهل دی اوزما اهل بيت دی. (ابن جرير)

صحيح مسلم شريف کښې دی يزيدبن حبان رحمه الله فرمائی زه اوحصين ابن سبره اوعمربن مسلمه يوځای شو اوحضرت زيدبن ارقم ﷺ له لاړو. حصين وئيل اې يزيد تاته خوډيرې ښيګړې ملاوشوې. تاسو د حضورﷺ زيارت اوکړو د حضورﷺ احاديث دې واوريدل حضورﷺ سره دې جهاد اوکړو د حضورﷺ په امامت کښې دې مونځونه اوکړل غرض دا چه تا ډير خيراوبرکت حاصل کړو. ښه ده مونږ ته خو څه حديث واوروه. هغوی اوفرمائيل وراره اوس زما عمر ډير شوې دې دحضورﷺ زمانه لرې شوه بعضې خبرې مې د ذهن نه تلی دی. اوس ته داسې اوکړه چه کومې خبرې زه پخپله بيان کړم هغه قبولې کړه ګنی نو ما مه تنګه وه. واوره د مکې اومدينې په مينځ کښې يو د اوبوځای چه هغې ته خم وانی حضورﷺ په ولاړه مونږ ته يوه خطبه اوفرمائيله د الله ﷻ د حمد اوثنا اووعظ اونصحيت نه پس ئې اوفرمائيل زه يوانسان يم ډيره ممکن ده چه ماله د الله ﷻ يوقاصد راشی اوزه د هغه اومنم. زه په تاسو کښې دوه څيزونه پريږدم اول خوکتاب الله کوم کښې چه هدايت اونور دې.تاسو د الله ﷻ کتاب واخلئ اودا په مضبوطياسره اونيسئ. بيا حضورﷺ د کتاب الله ډيرزيات رغبت ورکړو او د هغې طرف ته ئې مونږ ښه متوجه کړو. بيافرمانی چه د خپلو اهل بيتو باره کښې تاسو ته د الله ﷻ ياد درکوم درې خل ئې هم دغه کلمه اوفرمائيله. نوحصين دحضرت زيد نه تپوس اوکړو د حضورﷺ اهل بيت څوک دی؟

د اهل بيتونه کوم خلق مراد دی؟:- آيا د حضورﷺ بيبيانې د هغوی اهل بيت نه دی؟ وئې فرمائيل چه د حضور ﷺ بيبيانې خو د هغوی ﷺ اهل بيت دی خود حضورﷺ اهل بيت هغه دی په کومو باندې چه د حضورﷺ نه پس صدقه خوړل حرامه ده. تپوس ئې اوکړو هغه څوک دی؟وئې فرمائيل آل علی ﷺ آل عقيل ﷺآل جعفر ﷺ آل عباس ﷺ. تپوس ئې اوکړو چه په دې ټولوباندې د هغوی نه پس صدقه خوړل حرام دی. وئې وئيل او. په دويم سند سره داهم روايت دې چه ماتپوس اوکړو چه د حضورﷺ بيبيانې هم دهغوی په اهل بيتوکښې داخل دی؟ وئيل نه. په الله ﷻ قسم د ښځې خو داخبره ده چه هغه خپل خاوند سره ډيره موده وی خوکه هغه بيا طلاق ورکړی نوخپل مور پلارکره اوخپل قوم له ځی. دحضورﷺ اهل

---

(۱) احمد:۶/۲۹۶

(۲) صحيح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب فضائل اهل بيت النبی ﷺ:۲۴۲۴.(مسلم وغيره)

Scanned with Ca

بیت دهغوی اصل اوعصبه دی په چاباندې چه دحضور ﷺ نه پس صدقه حرامه ده(۱) په دې روایت کښې هم دغه دی خو اولنې روایت اولی دې اوهم دا اخستل ټیک دی اودا په دویم کښې چه کوم دی دې نه مراد صرف په حدیث کښې چه د کوموا هل بیتو ذکر دې هغه دی. ځکه هلته خو هغه آل مراد دې په چا چه صدقه خوړل حرام دی. یادا چه مراد صرف بیبیانې نه دی بلکه هغوی سره د هغه او آل دی. هم دا خبره ډیره صحیح ده او په دې سره په دې روایت اود دې نه په وړاندې روایت کښې جمع والې هم کیږی. اوقرآن او اولنی احادیث هم راجمع کیږی. خوکه په دې صورت کښې د دې احادیثو صحت تسلیم کړې شی ځکه چه د دې په بعضې اسنادو کښې نظر دې. والله اعلم. کوم سړی ته چه د معرفت نورحاصل وی او په قرآن پاک کښې ورته پوهه هم حاصله وی هغه به یقینا په یونظر پوهه شی چه په دې آیت کښې دحضور اکرم ﷺ بیبیانې بې شکه شبهې داخل دې د دې د پاره چه دا د پورته کلام هم هغوی سره دې اوهم د هغوی باره کښې روان دی. هم دا وجه ده چه د دې نه پس نې اوفرمانیل چه د الله ﷻ آیاتونه چه ستاسو کورونو کښې یې وحی کیږی اودروسول ﷺ خبرې دکوم درس چه ستاسو په کورونو کښې کیږی هغه یاد اوساتئی او په هغې باندې عمل اوکړئی.

قران پاک د عائشه رضی الله عنها د بسترې نه علاوه د بل چا په بستره باندې نه دې نازل شوې:-نود آیات الله اوحکمت نه مراد دقتاده رحمه الله وغیره دقول مطابق کتاب اوسنت دی(۲)دایوخاص خصوصیت دې چه دهغوی نه بغیربل چاته نه دې ملاو د هغوی په کورونوکښې دالله ﷻ وحی او دالله ﷻ رحمتونه نازلیږی او په دې کښې هم دا عزت حضرت ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته په طریقه اولی اود ټولو نه زیات حاصل دې ځکه چه په حدیث شریف کښې صفاذکردې چه د بل چا په بستره باندې په حضور ﷺ باندې وحی نه ده راغلې بغیرد هغې د بسترې نه. (۳) دا په دې وجه هم چه حضوراکرم ﷺ د دې نه بغیربلې پیغلې سره نکاح نه وه کړې د هغې بستره بغیرد رسول الله ﷺ نه د بل چا د پاره نه وه. نود دې درجې د اوچت والی او زیاتې مرتبې په وجه هغه په صحیح توګه حقداره وه.

کله چه د حضور ﷺ بیبیانې د هغوی ﷺ اهل بیت شوې نودحضور ﷺ نیزدې خپلوان په طریقه اولی سره د هغوی ﷺ اهل بیت دی. لکه چه په حدیث کښې تیرشو چه زما اهل بیت ډیر حقدار دی. د دې په مثال کښې دا آیت په ټیک توګه پیش کیدې شی ﴿لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾(۴)داخونازل شوې د مسجدقبا باره کښې لکه څنګه چه صفا صفا په احادیثو کښې موجود دی خوپه صحیح مسلم شریف کښې دی چه کله دحضور ﷺ نه سوال اوشو چه د دې جمات نه کوم یو جمات مراد دې نوحضور ﷺ اوفرمانیل چه هغه زما جمات یعنی مسجد نبوی ﷺ (۵) نو چه کوم صفت په مسجدقبا کښې وو په مسجدنبوی ﷺ کښې هم دې په دې وجه ئې دا جمات هم په دې نوم سره په دې آیت کښې داخل کړو.

د حسن ؓ خطبه:- ابن ابی حاتم کښې دی د حضرت علی ؓ د شهادت نه پس حضرت حسن ؓ خلیفه جوړکړې شو. یوځل هغوی مونځ ورکولو د بنو اسدیوسړی راټوپ کړو راغلواود سجدې په حالت کښې په هغوی چه خنجر ورخښ کړو. هغوی په نرمه غوښه کښې اولګیدل او په دې سره هغوی ځومیاشتې بیمار وو کله چه ښه شو نوجمات ته راغلو او په منبرکیناستو خطبه نې ورکړه وئې فرمانیل ای

---

۱) صحیح مسلم کتاب فضائل الصابة باب من فضائل علی بن ابی طالب ؓ:۲٤۰۸.
۲) الطبری:۲۰/۲٦۸.
۳) صحیح بخاری کتاب فضائل اصحاب النبی ﷺ باب فضل عائشه:۳۷۷۵.
۴) ۹/التوبه:۱۰۸.
۵) صحیح مسلم کتاب الحج باب بیان المسجد الذی اسس علی التقوی...:۱۳۹۸.

Scanned with Ca

عراقیانو زمونږ باره کښې د الله ﷻ نه اوویریږئ. مونږ ستاسو حاکمان یو ستاسو میلمانه یومونږ اهل بیت یودچا باره کښې چه آیت ﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴾[1] نازل شوی دی. په دې باندې هغوی ښه زور واچولو اودا نی باربار اداکړو په کوم سره چه د جمات خلق په ژړا شو. یو څل علی بن حسین رحمه الله یوشامی ته فرمائیلی وو آیا تاد سورت احزاب آیت تطهیر نه دی لوستلی؟ هغه وئیل او ولې د هغې نه مراد ته ئی؟ وئی فرمائیل او الله ﷻ د ډیر لطف اوکرم لوئ علم او پوره خبر والا دې هغه پوهه شو چه تاسو دهغه دلطف اوکرم اهل ئی خکه چه هغه تاسوته دانعمتونه درکړی اودا فضیلتونه ئی تاسو ته درکړی.

مذکوره ایت مبارک کښې پاکې بیبیانې مراد دي: نود آیت معنی په مطابق د تفسیرابن جریر دا شوه چه ای د نبی بیبیانو! د الله ﷻ نعمت په تاسو باندې دې هغه تاسو یادکړئ تاسو ئی په داسې کور کښې آباد کړئی کوم ځائ چه دالله تعالی آیاتونه اود هغه حکمت لوستلې شی. تاسو له دالله تعالی په دې نعمت باندې شکر کولوپکاردی اود هغه حمدوئیل پکاردی چه په تاسو باندې د الله ﷻ مهربانی اوفضل دې چه هغه تاسو په دې کورونوکښې آبادکړئی[2] د حکمت نه مراد سنت اواحادیث دی الله ﷻ د انجام نه خبردار دې په دې وجه په خپل پوره اوصحیح علم سره اوتللئی اود خپل نبی ﷺ د بیبیانو جوړولود پاره ئی خوښې کړې نودا هم د الله ﷻ په تاسو باندې احسان دې چه لطیف او خبیردې دهر یو څیز جز(یوه حصه) اوکل (ټول) دې.

إِنَّ الْمُسْلِمِينَ	وَالْمُسْلِمَاتِ	وَالْمُؤْمِنِينَ	وَالْمُؤْمِنَاتِ	وَالْقَانِتِينَ
بیشکه مسلمانان سړی اومسلمانانې ښځې او مومنانې سړی او مومنانې ښځې او فرمان منونکی سړی				
بیشکه مسلمانان سړی اومسلمانانې ښځې ، او مومنان سړی او مومنانې ښځې او تابعدار سړی				
وَالْقَانِتَاتِ	وَالصَّادِقِينَ	وَالصَّادِقَاتِ	وَالصَّابِرِينَ	
او فرمان منونکې ښځې او ربښتینی سړی او ربښتینې ښځې او صبر کونکی سړی				
او تابعدارې ښځې ، او ربښتینې سړی او ربښتینې ښځې او صابره سړی				
وَالصَّابِرَاتِ	وَالْخَاشِعِينَ	وَالْخَاشِعَاتِ	وَالْمُتَصَدِّقِينَ	
او صبر کونکې ښځې او عاجزی کونکی سړی او عاجزی کونکې ښځې او صدقه ورکونکی سړی				
او صابره ښځې او ویریدونکی سړی او ویریدونکې ښځې او خیرات کونکی سړی				
وَالْمُتَصَدِّقَاتِ	وَالصَّائِمِينَ	وَالصَّائِمَاتِ	وَالْحَافِظِينَ	
او صدقه ورکونکې ښځې او روژه نیونکی سړی او روژه نیونکې ښځې او حفاظت کونکی سړی				
اوخیرات کونکې ښځې ، او روژه دار سړی او روژه دارې ښځې او دخپلو شرمګاهونو حفاظت				
فُرُوجَهُمْ	وَالْحَافِظَاتِ	وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ	كَثِيرًا	
شرم دخایونوخپلو او حفاظت کونکې ښځې او یادونکی سړی الله لره ډیر				
کونکی سړی اوحفاظت کونکې ښځې ..... اوالله ﷻ ډیر ډیر یادونکی سړی				

[1] ۳۳/الاحزاب: ۳۳.
[2] الطبری: ۲۰/۲۶۸.

Scanned with Ca

وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ	اَعَدَّ اللّٰهُ	لَهُمْ	مَّغْفِرَةً	وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝
او یادونکي ښځي	تیار کړي دي الله	دپاره دهغوئ	ښښنه	او اجر لوئ

او ښځي | الله ﷻ د دي ټولو دپاره لویه ښښنه او لوئي اجر تیارکړي دي

قوله تعالی:- اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ

دمومنانوناریناؤ اوښځو فضائل او علامتونه:- ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها یوځل حضور ﷺ ته عرض اوکړو آخرددي څه وجه ده چه هم د سړو ذکر په قرآن کښي راځی اوزمونږ د ښځو خو هلهو ذکر نه کیږی. یوه ورځ زه په خپل کور کښي ناسته ووم خپل سرمي تیك کولو چه ما دحضوراکرم ﷺ آواز په منبر باندي واوریدو. ما ویښته خوهم داسي راغوندکړل او په حجره یعنی کوټه کښي کیناستم اود رسول الله ﷺ خبري مي اوریدي حضور ﷺ دغه وخت هم دا آیت تلاوت فرمائیلو(۱) په نسائی وغیره کښي نور دیر روایتونه د هغوی نه مختصر نقل دی. یوروایت کښي دی چه یوځو ښځو حضور ﷺ ته داوئیلي وو. بل روایت کښي دی چه نورو ښځوازواج مطهرات رضی الله عنهن ته نی وئیلي وو.

ایمان او اسلام جدا جدا دی:- اسلام اوایمان جدا جدابیانول دلیل دي ددي خبري چه ایمان د اسلام غیر دي اوایمان داسلام نه مخصوص اوممتاز دي ﴿ قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ؕ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝﴾(۲) والا آیت اود بخاری او مسلم حدیث چه زناکارد زنا په وخت کښي مؤمن نه وی.(۳) بیا په دي امر باندي اجماع ده چه په زناسره کفر نه لازمیږی. دا په دي باندي دلیل دي اومونږ دبخاری په شرح کښي دا ثبت کړی دی(دا یادساتئی چه په دي کښي هغه وخت فرق وی کله چه حقیقی اسلام نه وی. لکه چه امام المحدثین امام بخاری رحمه الله صحیح بخاری کتاب الایمان کښي په کثیرو دلائلوسره ثابت کړي دي. والله اعلم. مترجم)

(وَالْقٰنِتِيْنَ) د قنوت مطلب:- د قنوت نه مراد په سکون سره اطاعت کول دی لکه ﴿اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا يَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ؕ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝﴾(۴) کښي دی. بل ارشاد دي ﴿لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ۝﴾(۵) یعنی دآسمان اوزمکي هریوځیزدالله ﷻ فرمانبردار دي. بیا ارشاد فرمائی ﴿يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ۝﴾(۶) یوبل ارشاد دي ﴿وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ۝﴾(۷) یعنی د الله ﷻ په وړاندي په آدب فرمانبردارتی په صورت کښي اودریږه. نود اسلام د پاسه مرتبه د ایمان ده او دي په اجتماع سره په انسان کښي د حکم منلواو تابعدارتی کولو ماده پیداکیږی.

(وَالصّٰدِقِيْنَ) ربښتیا وئیل دیر غټ صفت دي:- دخبرو صداقت د الله ﷻ دیرخوښ دی اودا عادت په هر شان سره محمود دي. په کبارصحابه کرامو رضی الله عنهم کښي خوهغه بزرګان هم وو کوموچه دجاهلیت په زمانه کښي هم دروغ نه وو وئیلی. ربښتونولی د ایمان نښه ده اودروغ د نفاق علامت دي. ربښتوني خلاصیږی ربښتیاوایه دنیکئی طرف ته لارخودنه کوی اونیکی د جنت طرف ته. د دروغونه بچ شه دروغ دبدکارتی طرف ته لارخودنه کوی. اوفسق اوفجور انسان د دوزخ طرف ته اوړی. انسان په ربښتیا وئیلوسره او هر

---

۱) احمد: ۶/۳۰۵ وسنده صحیح.
۲) ۴۹/الحجرات: ۱۴.
۳) صحیح بخاری کتاب المحاربین باب اثم الزناة: ۶۸۰۹، صحیح مسلم: ۵۷، ابوداؤد: ۴۶۸۹، ترمذی: ۲۶۲۵،
۴) ۳۹/الزمر: ۹.
۵) ۳۰/الروم: ۲۶.
۶) ۳/آل عمران: ۴۳.
۷) ۲/البقرة: ۲۳۸.

Scanned with Ca

وخت د رښتیاو اراده کولوسره د الله ﷻ په نیز باندې صدیق لیکلې کیږی. دروغ ویونکې اود دروغو ارادې کونکې د الله ﷻ په نیز دروغژن لیکلې شی.(۱)نور هم په دې باره کښې ډیر څه دی.

(وَالصّٰبِرِیْنَ) **د صبر مقام**:-په دې علم باندې چه د تقدیر لیك نه ورانیږی.دتولو نه لوئ صبر دغم د شروع په وخت کښې دې اوددې اجر زیات دې. بیا چه څنګه څنګه وخت تیریږی هغه ته هسې خو صبر راځی. د خشوع نه مراد تسکین دلجمعی تواضع، عاجزی ده اودا په انسان کښې هغه وخت راځی چه کله نی په زړه کښې دالله ﷻ ویره وی اورب هروخت حاضراوناظرګڼړی اودغه شان دالله ﷻ عبادت کونکې وی لکه چه هغه الله ﷻ ته ګوری اوکه دانه وی نوکم نه کم په دې درجه کښې خودې وی چه الله ﷻ هغه ته ګوری.

(وَالْخٰشِعِیْنَ) **خشوع هم لوئې صفت دې**:- دصدقې نه مراد محتاجو مسکینا نوته ضعیفانوته چه دهغوی څه ګټه نه وی اونه د هغوی څوك د ګټې والا وی. هغوی ته خپل فالتو مال ورکوه په دې نیت سره چه د الله ﷻ اطاعت وی اود هغه دمخلوق کار جوړشی.

دبخاری اومسلم په حدیث کښې دی اووه قسمه خلقو له به الله ﷻ د عرش د سوری لاندې ځائ ورکوی په کومه ورځ چه به د هغه د سورې نه بغیربل هیڅ سورې نه وی. په دوی کښې یوهغه دې چه صدقه ورکوی خوداسې په پټه چه د ښی لاس په خرچ کولوباندې ګس لاس ته خبراونه رسی(۲)یوبل حدیث کښې دی چه صدقه ګناهونه داسې ختموی لکه څنګه چه اوبه اُور مړکوی(۳)پدې باره کښې نور هم ډیر احادیث دی چه په خپل خپل ځائ موجوددی. د روژې باره کښې په حدیث کښې دی داد بدن زکوة دې (۴) یعنی دا پاك صفاکوی اوطبعًا هم ردی ګډوډوالې ختموی. حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمانی د رمضان روژې ساتلوسره چه څوك هره میاشت دری روژې اوساتی هغه ﴿وَالصّٰٓئِمِیْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِیْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِیْنَ اللّٰهَ كَثِیْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِیْمًا﴾(۵)کښې داخل شو(۶)روژه شهوت هم کمه وی. په حدیث کښې دی ای ځوانانوپه تاسوکښې چه د چا طاقت وی نوهغه دې نکاح اوکړی دې د پاره چه د هغه نظر ښکته وی اوپاکدامنی ورته حاصله شی اودچا چه د نکاح طاقت نه وی هغه دې روژې اوساتی هم دا د هغه د پاره لکه خصی کیدل چه وی(۷) د دې د پاره د روژې د ذکر کولونه پس نی د بدکارنی د بچ کیدو ذکر اوکړو اووئی فرمائیل چه دا مسلمان ښځې اوسړې د حرامواود ګناه د کارونونه بچ شی. خپل دا خاص طاقت په جائزځ کښې خرچ کوی. لکه چه بل آیت کښې دی داخلق خپل بدن رامنع کوی خوپه دوی باندې په خپلو ښځو او وینځوهیڅ ملامتیانشته.اوددې نه علاوه چه نورځه غواړی هغه دحدنه تیریدونکې دې.دالله ﷻ د ذکر باره کښې په یوحدیث کښې دی چه کله خاوندخپله ښځه د شپې راپاسوی او دوه رکعته مونځ دواړه اوکړی نوهغوی د الله ﷻ په ذکرکونکو کښې شمیرلې کیږی(۸)

حضرت ابوسعیدخدری ﷺ تپوس اوکړو یارسول الله ﷺ تولونه د لوئې درجې والا بنده د قیامت په ورځ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الادب باب قول الله تعالی ﴿یاایهاالذین امنوا اتقوالله وکونوامع الصادقین﴾: ٦٠٩٤، صحیح مسلم:٢٦٠٧

(۲) صحیح بخاری کتاب الاذان باب من جلس فی المسجد ینتظر الصلاة: ٦٦٠، صحیح مسلم: ١٠٣١، ابن حبان:٤٤٨٦

(۳) ترمذی کتاب الایمان باب ماجاء فی حرمة الصلاة:٢٦١٦وهوحسن، ابن ماجه:٣٩٧٣، ٢١١٠.

(۴) ابن ماجه کتاب الصیام باب فی الصوم زکاة الجسد:١٧٤٥

(۵) ٣٣/الاحزاب:٣٥.

(۶) الدرالمنثور:٥/٣٨٠.

(۷) صحیح بخاری کتاب النکاح باب قول النبی ﷺ ((من استطاع منکم الباءة...)):٥٠٦٥، صحیح مسلم:١٤٠٠، ابوداؤد: ٢٠٤٦، ترمذی:١٠٨١، ابن ماجه:١٨٤٥، احمد:١/٣٧٨، ابن حبان:٤٠٢٦.

(۸) ابوداؤد کتاب التطوع باب قیام اللیل:١٣٠٩

Scanned with Ca

د الله ﷻ په نیز څوک دي؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه د الله ﷻ ذکر په کثرت سره کونکي. ماوئیل یارسول الله ﷺ دالله ﷻ دلاري د مجاهدنه هم زیات؟حضور ﷺ اوفرمائیل سره ددي چه هغه په کافرانوباندي توره چلوی اوتردي چه توره ئی ماته شی اوپه وینوکښې رنګ شی نوبیاهم د الله ﷻ داپه کثرت سره ذکرکونکي به د هغه نه غوره وی. (۱)هم په مسنداحمدکښې دی چه حضوراکرم ﷺ دمکي په لارروان وو جمدان ته چه اورسیدونوونی فرمائیل دا جمدان دي خان له روان شو اوخان له ئی وړاندې والي اوکړو. خلقوتپوس اوکړو دمفرد(خان له) نه څه مراد دي؟ ونی فرمائیل چه د الله ﷻ ډیر زیات ذکر کونکي. بیا فرمائی یاالله په حج اوعمره کښې خپل سرخرونکوباندې رحم اوکړه.خلقو وئیل دویښتوکټ کولو والا دپاره هم دعااوکړئی.حضور ﷺاوفرمائیل یاالله سرخرونکی اوبښه خلقوبیادکټ کونکودپاره درخواست اوکړو نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه کټ کونکی هم(۲)دحضور ﷺ فرمان دي چه د الله ﷻ د عذابونود بچ کولو هیڅ یوعمل د الله ﷻ د ذکر نه زیات لوئ نه دي. یوځل حضور ﷺ اوفرمائیل زه تاسوته د ټولو نه بهتردټولو نه پاك اود ټولو نه د اوچتي درجې عمل اوښایم؟چه ستاسوپه حق کښې دالله ﷻ په لار کښې د سرو اوسپینوزرو د لوټ کولو نه هم زیات بهتر وی اود دي نه هم زیات بهتروی چه تاسو صباد خپلو دښمنانو سره مقابله اوکړئی تاسو د هغوی ستونه اووهئی اوهغوی ستاسو ستونه اووهی. خلقو ونیل حضور ﷺ خامخائی رااوښائي. ونی فرمائیل دالله تعالی عزوجل ذکر(۳) د مسنداحمد په یوحدیث کښې دی یوسړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کوم یومجاهدغوره دي؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د ټولونه زیات د الله ﷻ ذکر کونکي. هغه بیا دروژه دارباره کښې تپوس اوکړو نو بیاورته هم داجواب ملاوشو. بیائی د مونځ زکوة حج صدقه ټولو باره کښې تپوس اوکړو اوحضور ﷺ د هریوهم دغه جواب ورکړو. نو حضرت ابوبکر ﷺ د حضرت عمر ﷺ نه تپوس اوکړو بیاخود الله ﷻ ذکر کونکی ډیر زیات وړاندې شو حضوراکرم ﷺاوفرمائیل او. (۴) د الله ﷻ د ذکر د کثرت باره کښې نورهم ډیراحادیث راغلی دی. هم د دي سورت آیت ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾(۵)په تفسیرکښې به مونږ دا احادیث بیانوو. ان شاء الله ﷻ.بیافرمائی چه دانیك صفتونه په چاکښې وی مونږ د هغوی د پاره مغفرت تیارکړي دي او ډیر لوئ اجر یعنی جنت.

وَمَا كَانَ	لِمُؤْمِنٍ	وَّلَا مُؤْمِنَةٍ	إِذَا	قَضَى اللّٰهُ
او نشته دي حق	یو مومن سړی لره	اونۀ یوې مومنې ښځې لره	کله چې	فیصله اوکړی الله
او دهیڅ مومن یا مومنې دپاره جائز نه دی	چې کله ورته الله ﷻ اودهغۀ رسول دیو کار			
وَرَسُولُهُ	أَمْرًا	أَنْ يَّكُونَ لَهُمُ	الْخِيَرَةُ	مِنْ أَمْرِهِمْ ط	وَمَنْ
او رسول دهغه	دیو کار	چې وی هغوئ ته	اختیار	دکار خپل نه	او هغه څوك
حکم اوکړی	چې بیا دې هم هغوئ ته څه	اختیار وی	او څوک		

۱) احمد:۳/۷۵
۲) احمد:۳/۴۱۱وهو صحیح بالشواهد.
۳) احمد:۵/۲۳۹.
۴) احمد:۳/۴۳۸
۵) ۳۳/الاحزاب:۴۱.

Scanned with Ca

يَّعْصِ اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	فَقَدْ ضَلَّ	ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ۝
چې نافرمانی کوی دالله | او درسول د هغه | نوګمراهه شو|په ګمراهئ ښکاره سره|			
چې دالله ﷻ اودهغهٔ درسول ﷺ نافرمانی کوی| نو هغه ښکاره ګمراه شو			

قوله تعالی:- وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ

د پیغمبر ﷺ د حکم په وړاندې د چاهیځ اختیار نشته:- رسول الله ﷺ دزیدبن حارثه ﷺ پیغام یورو اود حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها کره لاړو. هغې ونیل چه زه هغه سره نکاح نه کوم. حضور ﷺ اوفرمائیل داسې نه وایه اوهغه سره نکاح اوکړه. حضرت زینب رضی الله عنها ونیل چه ښه ده بیالږه موقعه راکړه چه زه لږ سوچ اوکړم. اوس لاداخبرې کیدې چه وحی نازل شوه اودا آیت نازل شو. دې اوریدو سره حضرت زینب رضی الله عنها اوونیل یارسول الله ﷺ تاسو په دې نکاح سره راضی ئې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه او نو حضرت زینب رضی الله عنها جواب ورکړو چه بس بیازما انکارنه دې. زه به دالله تعالی د رسول ﷺ نافرمانی نه کوم. ما خپل ځان د هغه په نکاح کښې ورکړو. بل روایت کښې دی چه د انکار وجه داوه چه د حضرت زیدد نسب نه د هغې نسب ډیردشرافت والا وو. حضرت زید ﷺ درسول الله ﷺ آزادکړې شوې غلام وو.

دا ایت مبارک د چا باره کښې نازل شوې دې :- حضرت عبدالرحمن بن زید بن اسلم فرمائی چه دا آیت د عقبه بن ابی معیط د لورام کلثوم رضی الله عنها باره کښې نازل شوې دې.دصلح حدیبیه نه پس دتولونه رومبنی مهاجره ښځه هم دا وه. هغې رسول الله ﷺ ته اوفرمائیل حضور ﷺ زه خپل خان تاته هبه کوم حضور ﷺ اوفرمائیل ماته قبوله ده. بیائی دحضرت زیدبن حارثه ﷺ سره د هغې نکاح اوکړه. غالبًا دانکاح د حضرت زینب رضی الله عنها د نکاح نه پس شوې ده. په دې سره ام کلثوم رضی الله عنها خفه شوه اود هغې رونړه هم وران شو چه زمونږ خوخپله اراده د رسول الله ﷺ سره دنکاح وه نه چه د هغوی ﷺ د غلام سره د نکاح. په دې باندې دا آیت نازل شو بلکه د دې نه هم معامله صفاشوه اواوفرمائیلی شو چه ﴿ اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤى اَوْلِيٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝ ﴾[1] نبی کریم ﷺ د مؤمنانود ځانونونه هم زیات وړاندې دې. نوآیت ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ۝ ﴾[2] خاص دې اود دې نه هم جامع آیت دا دې.

دجلیبیب قصه:- مسند احمد کښې دی چه یوانصاری ﷺ ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته د خپلې لور نکاح جلیبیب ﷺ سره اوکړه. هغه جواب ورکړو ښه خبره ده زه به خپل کور والا سره هم مشوره اوکړم. لاړو مشوره ئې اوکړه نو هغې وئیل دانه شی کیدې. مونږ خود فلانکوفلانکو ددوی نه لویولویو خلقو پیغام واپس کړې دې او اوس جلیبیب ﷺ سره نکاح اوکړی. انصاری ﷺ د خپلې بی بی جواب اوریدو سره د حضور ﷺ په خدمت کښې تلل غوښتل چه لورنی د پردې نه اخوادا تولې خبرې اترې اوریدلې ونی ونیل تاسو درسول الله ﷺ خبره غورزوئی؟ کله چه حضور ﷺ په دې خوشحاله دې نوتاسو له انکار نه دی کول پکار.اوس دواړو ونیل چه دا لورموتیک وانی. مینځ کښې رسول الله ﷺ دې د دې نکاح نه انګارکول د رسول الله ﷺ پیغام او خواهش پریخودل دی دا تیک نه دی. انصاری ﷺ نیغ د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشو اوعرض ئې اوکړو یارسول الله ﷺ تاسو په دې خبره باندې خوشحاله ئې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه اوزه په دې باندې رضامندیم. ونی ونیل بیاتاسو ته اختیاردې چه تاسو نکاح اوکړئی نوبس نکاح اوشوه.یوځل دمدینې مسلمانان د دښمن د مقابلې دپاره اووتل جنګ اوشو په کوم کښې چه حضرت

---

[1] ۳۳/الأحزاب:٦.
[2] ۳۳/الاحزاب:٣٦.

Scanned with Ca

جلیبیب ﷺ شهیدشو. هغه ډیرزیات کافران قتل کړي وو د هغوی مړی د ده سره خواکې پراته وو. د حضرت انس ﷺ بیان دي چه ماپخپله اولیدل چه دهغه کور ډیر مور وو په ټوله مدینه کښې د هغه نه څوك زیات خرچ والا نه وو. (۱) په یوبل روایت کښې د حضرت ابوبرزه اسلمی ﷺ بیان دي د حضرت جلیبیب ﷺ په طبیعت کښې توقي وي په دي وجه ما په خپل کور کښې وئیلي وو چه دي تاسو کره رانه شي. د انصارو عادت وو چه هغوی به د یوې ښځې نکاح نه کوله تردي چه دا معلومه کړی چه حضور ﷺ د هغوی باره کښې څه نه فرمائی بیائی دغه واقعه بیان کړه کومه چه پورته ذکر شوه.

پدي کښې داهم دی چه جلیبیب ﷺ اووه کافران په دي غزوه کښې قتل کړي وو. بیاکافران راجمع شو او هغه ئی شهیدکړو. حضور ﷺ د هغوی په لټون کښې چه کله د هغوی مړی له راغلو نووئی فرمانیل د اووه کسانووژلونه پس شهیدشوي دي. دا زما دي او زه د ده یم. دوه یادري خل نی داسې اوفرمانیل. بیائی قبراوکنستلواو په خپلو لاسونومبارکوئی په قبرکښې ورکوزکړو. درسول الله ﷺ په لاسونو مبارکو د هغوی جنازه اوشوه اوهیڅ کټ وغیره نه وو. داهم ذکر نه دی چه هغوی ته غسل ورکړې شوی وی. د الله رسول ﷺ دادعاکړې وه چه یاالله تعالی په ده باندې د خپل رحمتونوباران راووروه اوده له د ژوند ټول خوندونه ورکړه. په ټولوانصاروکښې د هغې ښځې نه د زیات خرچ والا یوه ښځه هم نه وه. (۲) هغې چه کوم وخت کښې د پردې نه اخواته خپل موریلارته وئیلي ووچه د حضور ﷺ خبره مه ردکوئی نوهغه وخت دا آیت ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا ﴾ (۳) نازل شوي وو.

دحضرت ابن عباس ﷺ نه حضرت طاؤس رحمه الله تپوس کوی چه د مازیګرنه پس دوه رکعته کولې شی؟ نو هغوی منع کړو اود دي آیت تلاوت ئی اوکړو. نودا آیت لکه چه د شان نزول په اعتبارسره مخصوص دي خود حکم په اعتبارسره عام دي. د الله ﷻ اود هغه د رسول ﷺ په موجودګنی کښې خونه څوك څه مخالفت کولې شی او نه د منلواونه منلوچاته څه اختیار باقی پاتې کیږی. نه د رائې قیاس کولو حق او نه د یوې خبرې حق. لکه چه ارشاد دي ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ (۴) یعنی قسم دي ستادرب خلق به ایماندار نه وی ترکومې چه هغوی په خپل مینځ کښې ټولواختلافاتو کښې تاحاکم اونه منی. بیا ستا په فرمان باندې په زړه کښې څه تنګوالی اونه ساتی بلکه په کولاوزړه سره ئی اومنی. په صحیح حدیث کښې دی د هغه ذات قسم د چا په لاس کښې چه زما ځان دي چه تاسو کښې یوکس مؤمن کیدې نه شی ترکومې چه د هغه خواهش د هغه څیز تابعدار نه شی کومې چه ما راوړې دي (۵) ددې د پاره دلته ئی هم د دې خلاف څه بدی بیان نه کړه چه د الله ﷻ اود هغه د رسول ﷺ نافرمانی کونکې ښکاره په ښکاره ګمراه دي. لکه چه ارشاد دي ﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ (۶) یعنی کوم خلق چه د رسول الله ﷺ د ارشاداتو خلاف کوی هغوی له ویریدل پکار دی چه داسې نه وی په هغوی باندې څه فتنه راپریوځی او یا هغوی ته څه دردناك عذاب اورسی.

---

۱) احمد:۳/۱۳۶وسنده صحیح، ابن حبان:۴۰۵۹، مجمع الزوائد:۹/۳۶۸.
۲) احمد:۴/۴۲۲وسنده صحیح، ابن حبان:۴۰۳۵،صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب من فضائل جلیبیب ﷺ:۲۴۷۲ مختصراً.
۳) ۳۳/الاحزاب:۳۶.
۴) ۴/النساء:۶۵.
۵) شرح السنة:۱۰۴ مشکوة کتاب الایمان باب الاعتصام بالکتاب والسنة:۱۶۷.
۶) ۲۴/النور:۶۳.

Scanned with Ca

وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِیْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَیْهِ

اویاده کړه کله چې ونیل تا | هغه سړی ته|چې احسان کړې وؤ الله|په هغه باندې|اواحسان کړې وؤ تا|په هغه باندې

او(یاد ساته) هرکله چې تا(زید بن حارثه ته) په چاچې الله ﷻ احسان کړې وو او تا پرې هم احسان کړې دا اوونیل

اَمْسِكْ عَلَیْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِیْ فِیْ نَفْسِكَ مَا

چې اوساته | ځان ته | ښځه ستا | اواویریږه دالله نه | او پټه ساتله تا | په زړه خپل کښې | هغه خبره

چې خپله ښځه پخپله نکاح کښې اوساته |اودالله ﷻ نه اوویریږه | اوتا په خپل زړه کښې

اللّٰهُ مُبْدِیْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ

چې الله | ښکاره کونکې وؤ دهغې | او تۀ یریدلې | دخلقو نه | حالانکه الله | زیات حقدار دې |

هغه خبره پټه ساتله |کومه چې الله ﷻ ښکاره کوله |اوته دخلقو داعتراض نه ویریدلې |حالانکه الله ﷻ

اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَیْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا

ددې چې ته او یریږې دهغه نه | پس هرکله چې | پوره کړو | زید | هغې نه | حاجت (خپل) |

ددې زیات حقدار دې |چې ته دهغۀ نه اوویریږې | بیا هرکله چې زید د خپلې ښځې نه حاجت پوره کړو

زَوَّجْنٰكَهَا لِكَیْلَا یَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ حَرَجٌ

نوپه نکاح درکړه مونږ تاته هغه |دپاره ددې چې | نۀ وی | په مومنانو باندې| څه تنګی (سختی)

(اوطلاق ئې ورکړو)| نو مونږ تاته هغه په نکاح کړه |دې دپاره چې د بیا دپاره مسلمانانو ته دهغه چا د

فِیْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِیَآىِٕهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ

په معامله دښځو | دخلې بللو خامنو خپلو کښې | کله چې | پوره کړې | دهغوئ نه | حاجت خپل |

ښځو په نکاح سره اخستلو کښې هیڅ تنګی پاتې نشی |چې په ځویتوب ئې نیولی وی |کله چې تري هغوی حاجت پوره کړی

وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾

او دې | حکم دالله | خامخا کیدونکې |

او دالله ﷻ حکم خامخا پوره کیږی |

قوله تعالی:-وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِیْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِ

دحضرت زید ؓ واقعه او دهغه فضیلتونه:-الله ﷻ خبرورکوی چه رسول الله ﷺ خپل آزادکړې شوې غلام حضرت زیدبن حارثه ؓ په هرشان سره ښه پوهه کړو په هغه باندې د الله ﷻ انعام وو چه د اسلام اود رسول الله ﷺ د تابعدارئی توفیق ئی ورکړو اودحضور ﷺ هم په هغه باندې احسان وو چه هغه ئی د غلامئی نه آزادکړو. د ده ډیر لوئ شان وو اودحضور ﷺ ډیرزیات خوښ وو ترڈې چه ده ته به ټولو مسلمانانوحب الرسول ونیل اودهغه خوئ اسامه ؓ ته هم. حب بن حب (یعنی محبوب بن محبوب) به ئی ورته ونیل. د حضرت عائشه صدیقه ؓ ارشاد دې په کوم لښکر کښې چه به حضوراکرم ﷺ دې لینګلونود هغه لښکر سردار به ئی هم دې جوړولو.که دې ژوندې وونود رسول الله ﷺ خلیفه به وو( ) بزارکښې دی حضرت اسامه ؓ فرمائی زه په جمات کښې ووم ماله حضرت عباس ؓ اوحضرت

---

[1] احمد:۲۸۱/۶، السنن الکبری:۸۱۸۲وسنده حسن، حاکم:۲۱۵/۳.

علی ﷺ راغله وئی فرمائیل لاړشه د حضور ﷺ نه زمونږ د پاره اجازت واخله. ماحضور ﷺ ته خبرورکړو حضور ﷺ اوفرمائیل چه معلومه ده هغوی ولې راغلی دی؟ ماوئیل نه. حضور ﷺ اوفرمائیل ماته پته ده لاړ شه راوغواړه. دوی راغله وئی فرمائیل یارسول الله ﷺ لږ شان اوفرمائې چه تاسو ته په خپلو اهل بیتو کښې د ټولونه زیات څوک ډیر محبوب دي. حضور ﷺ اوفرمائیل زمالور فاطمه رضی الله عنها. هغوی وئیل چه مونږ د فاطمه بی بی رضی الله عنها باره کښې تپوس نه کوو حضور ﷺ بیااوفرمائیل اسامه بن زیدبن حارثه ﷺ په چاچه الله ﷻ انعام کړې اوماهم[1] نبی کریم ﷺ دهغه نکاح دخپلې ترور لورامیمه بنت عبدالمطلب لور زینب بنت جحش ﷺ اسدیه سره کړې وه. لس دیناره او اووه درهم مهرئی ورکړې وو. یوه لوښته یو څادر اویوقمیص پنځوس مده غله اولس مده کهجورې هم ورکړې وې. تریوکال اوځه موده د پاسه خودا کور آباد وو خوبیاخفګان شروع شو. حضرت زید ﷺ حضور ﷺ له راغلو شکایت ئی اوکړو نوحضور ﷺ هغه پوهه کړوچه کور مه ورانوه د الله ﷻ نه اوویریږه. ابن ابی حاتم او ابن جریر دلته ډیر غیر صحیح آثار نقل کړی دی د کوم نقل چه هم مونږ مناسب نه ګڼړو اوپریږدونی ځکه چه په دې کښې یوهم ثابت او صحیح نه دې. په مسنداحمدکښې هم یوروایت د حضرت انس ﷺ نه نقل دې خوپه دې کښې هم ډیر غرابت دې په دې وجه مونږ هغه هم نقل نه کړو.

د زید اوزینب جدائی اودرسول کریم ﷺسره نکاح:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه داآیت د حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها اوحضرت زید بن حارثه ﷺ باره کښې نازل شوې دې[2] ابن ابی حاتم کښې دی چه الله ﷻ د اول نه خپل نبی ﷺ ته خبرورکړې ووچه حضرت زینب رضی الله عنها به ستا په نکاح کښې راځی هم داخبره وه چه کوم حضور ﷺ ظاهره نه کړه اوحضرت زید ﷺ ئی پوهه کړو چه هغه دې خپله بې بی نه جداکوی. حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی که رسول الله ﷺ د الله ﷻ وحی د کتاب الله نه یوا یت هم پټول غوښتل نودا آیت به ئی پټ کړې وو[3] د ﴿وطراً﴾ معنی حاجت ده. مطلب داچه کله زید ﷺ د هغې نه مونږ شواوسره د پوهه کولو ئی یوځای وخت تیرول قایم نه کړې شو بلکه طلاق اوشو نوالله تعالی حضرت زینب د رسول الله ﷺ په نکاح کښې ورکړه. په دې وجه د ولی ایجاب اوقبول دډهر اوګواهانو ضرورت پاتې نه شو. مسنداحمدکښې دی چه د حضرت زینب رضی الله عنها عدت پوره شو نورسول الله ﷺ حضرت زیدبن حارثه ﷺ ته اوفرمائیل ته لاړشه او هغې ته زما د نکاح پیغام اورسوه. حضرت زید ﷺ لاړو هغه وخت هغې اوړه اخل. په حضرت زید ﷺ باندې دهغې عظمت دومره راخورشوچه په مخامخ ئی ورته خبره هم اونه کړې شوه مخ ئی واړولو کیناستو ذکرئی اوکړو. مور بی بی وئیل چه اودریږه زه د الله ﷻ نه استخاره کوم. داخو اودریده مونځ ئی کولو هلته په رسول الله ﷺ باندې وحی نازله شوه په کوم کښې چه الله ﷻ اوفرمائیل ما ستا نکاح هغې سره اوکړه. هم هغه وخت حضور ﷺ بې ډځه خبرورکولونه هلته راغلو.بیادولیمې په دعوت کښې حضور ﷺ په ټولوباندې روټئی غوښه اوخوړله. خلقو خوراک څښاک اوکړولاړل. خویوڅوکسان هلته ناست ووخبرې کولې. حضور ﷺ بهرراوتلو اوخپلو بیبیانوته ئی سلام کولو اوهغوی به دحضور ﷺ نه تپوس کولو چه اوفرمائې چه د بی بی نه خوشحاله ئی؟ ماته یادنه دی چه ماحضور ﷺ ته خبرورکړویاهغه ته خبر ورکړې شو چه خلق دهغه ځای نه لاړل دی نه پس حضور ﷺ دهغه کورطرف ته تشریف یوړو زه هم حضور ﷺ سره ووم. ما د حضور ﷺ سره د تلوارادہ اوکړه

---

[1]) ترمذی کتاب المناقب باب مناقب اسامة بن زید ﷺ:۳۸۱۹ وسنده حسن.

[2]) صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة الاحزاب باب قوله ﴿وتخفی فی نفسك...﴾ :٤٧٨٧، ترمذی۳۲۱۲، ابن حبان:٤٠٤٥، احمد:۳/۱٤۹.

[3]) الطبری:٤/۲۷٤صحیح مسلم کتاب الایمان باب معنی قول الله عزوجل ﴿ولقدراه نزلة أخری﴾ : ۱۷۷وسنده صحیح.

Scanned with Ca

خوهغوی پرده اوکړه اوزما د هغوی په مینځ کښې پرده اوشوه اود پردې ایاتونه نازل شو اوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته نصیحت اوشو اوفرمائیلې شو چه د نبی اکرم ﷺ کورونوته بې اجازت مه ورځئ. (۱) مسلم وغیره صحیح بخاری کښې دی چه حضرت زینب رضی الله عنها به ازواج مطهراتو رضی الله عنهن ته په فخرسره وئیل چه ستاسو دتولونکاح ستاسو ولیانو او وارثانوکړې دی اوزما نکاح په اووم آسمان باندې الله ﷻ پخپله کړې ده. (۲) د سورت نور په تفسیرکښې مونږ دابیان کړې دې. حضرت زینب رضی الله عنها وئیل زما نکاح د آسمان نه راکوزه شوې ده د دې په مقابله کښې حضرت عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل چه زماد براءت آیاتونه د آسمان نه راکوزشوی دی د کومې چه حضرت زینب رضی الله عنها اقراراوکړو. (۳)

دزینب رضی الله عنها خصوصیات:- ابن جریرکښې دی زینب رضی الله عنها یوځل حضور ﷺ ته اووئیل په ما کښې الله ﷻ درې خصوصیتونه کیخودې دی چه ستاسوپه نوروبیبیانوکښې نه دی. یوخودا چه زما او ستاسو نیکه یودې دویمه دا چه الله ﷻ د آسمان نه زه ستاسو په نکاح کښې درکړم دریم دا چه زمونږ په مینځ کښې سفیرحضرت جبرائیل علیه السلام وو. (۴) بیافرمائی چه مونږ د هغې سره ستا نکاح کول جائزکړل دې د پاره چه په مسلمانانوباندې د خپل اخستې شوی هلکانو د بښځو باره کښې کله چه هغوی له طلاق ورکړې شی هیڅ ګناه پاتې نه شی. یعنی که هغوی غواړی نودې سره نکاح کولې شی. حضور ﷺ د نبوت نه وړاندې زید خپل خوئ جوړکړې وو په عام توګه به هغه ته زید بن محمد ﷺ وئیلې کیدو قرآن پاك د دې نسبت نه هم منع اوکړه اوحکم ئې ورکړو چه دې دخپل حقیقی پلار د نسبت طرف ته رابلئی. بیا چه کله زید رضی الله عنه زینب رضی الله عنها ته طلاق ورکړو نوالله ﷻ دادخپل نبی په نکاح کښې ورکړه اوداخبره ئې هم اخواکړه.په کوم آیاتونوکښې دحراموبښځو ذکرراغلې دې هم هلته همدا اوفرمائیلې شو چه ستاسو د خپل اصلی خوئی بښځه په تاسو باندې حرامه ده. اود اخستې شوی هلکانو بښځې د دې حکم نه بهردی ځکه چه داسې هلکان په عربوکښې ډیر وو. داد الله ﷻ په امر سره مقرر شوې وه چه د دې کیدل حتمی یقینی اوضروری وو اوحضرت زینب رضی الله عنها ته د اول نه داعزت ملاویدل لیکلې شوی وو چه هغه دې په ازواج مطهرات امهات المؤمنین رضی الله عنهن کښې داخله وی.

مَا كَانَ	عَلَى النَّبِيِّ	مِنْ حَرَجٍ	فِيمَا	
نشته	په نبی باندې	څه ګناه (بندیز)	په هغه کار کښې	
الله تعالی چې د پیغمبر دپاره د کومې خبرې فیصله کړې ده				
فَرَضَ اللّٰهُ	لَهٗ ؕ	سُنَّةَ اللّٰهِ	فِي الَّذِيْنَ	
چې مقرر کړې وی الله	دپاره دهغه	داطریقه دالله ده	په معامله دهغه پیغمبرانو کښې	
په هغې کښې په ده هیڅ الزام نشته	د پخوانو (پیغمبرانو) دپاره هم الله ﷻ دغه شان فیصلې کړې			
خَلَوْا	مِنْ قَبْلُ ؕ	وَكَانَ	اَمْرُ اللّٰهِ	قَدَرًا	مَّقْدُوْرًا ۙ
چې تیر شوی دی	دمخکښې نه	او دې	حکم دالله	یوه ازلی فیصله	مقرر کړې شوی
وې	.....	اودالله ﷻ دهر کار اندازه مقرر شوې ده			

---

۱) صحیح مسلم کتاب النکاح باب اذواج زینب بنت جحش...:۱٤۲۸، السنن الکبری للنسائی:۱۸۱۸۰، احمد: ۱۹۵/۳

۲) صحیح بخاری کتاب التوحید باب وکان عرشه علی الماء:۷٤۲۰.

۳) الطبری:۱۱۸/۱۹.

٤) الطبری

الَّذِيْنَ	يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ	وَيَخْشَوْنَهٗ	وَلَا يَخْشَوْنَ
دا طریقه ده دپاره دهغه خلقو	چې رسوی	پیغامونه دالله	او یریږی دهغه نه
اونۀ یریږی هغوئ			
دا ټول هغه پیغمبران دی	چې دالله ﷻ پیغامونه ئې خلقو ته رسول		اوله ده نه بۀ ویریدل
اَحَدًا	اِلَّا اللّٰهَ ؕ	وَكَفٰى بِاللّٰهِ	حَسِيْبًا ۝
دهیچا نه	مګر دالله نه	او کافی دی الله	دپاره دحساب اغستلو
مَا كَانَ	مُحَمَّدٌ		
نۀ دی	محمد ﷺ		
اودالله ﷻ نه سوا به دهچا نه نه ویریدل		اودحساب اخستلو له یوازې الله ﷻ کافی دی	
محمد ستاسو			
اَبَآ اَحَدٍ	مِّنْ رِّجَالِكُمْ	وَلٰكِنْ	رَّسُوْلَ اللّٰهِ
وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ			
پلار دیوکس	دنارینو ستاسو نه	ولیکن	رسول دالله دی
او آخری دپیغمبرانو دی			
په سړو کښې دهیچا پلار نه دی	هغه خو دالله ﷻ یو پیغمبر دی		اوآخری نبی دی
وَكَانَ اللّٰهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝		
او دی الله	په هر څیز باندې	ښه عالم	
اوالله ﷻ ته هر څیز ښه معلوم دی			

قوله تعالی:- مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ

په جائزامورو کښې انبیاء علیهم السلام باندې څه پابندی نه وی:- فرمائی چه کله دخپل اختیې شوی ځوئی دښځې سره د هغه د طلاق نه پس نکاح کول جائزدی نو بیا په دې کښې په نبی ﷺباندې څه بدی ده په وراندینوانبیاء کرامو باندې به کوم حکم د الله ﷻ نازلیدو په هغې باندې په عمل کولوکښې په هغوی باندې هیڅ بدی نه وه.ددې نه غرض دمنافقانو دقول ردکول دی چه ګوره د خپل آزاد کړې شوی غلام اودخپل اختیې شوی خوئ ښځې سره ئې نکاح اوکړه. دالله ﷻ مقررکړې شوی کارونه به کیږی. هغه چه څه غواړی کیږی اوچه څه نه غواړی نه کیږی.

قوله تعالی:- اَلَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ

د انبیاء کرامو صفتونه او ذمه داری:- دهغوی تعریف کولې شی څوك چه د الله ﷻ احکام مخلوق ته رسوی اودالله ﷻ دا امانت اداکوی اودهغه نه ویریږی.بغیردالله تعالی نه بل د چانه هم نه ویریږی. د چا په شان او شوکت سره په رعب کښې نه راځی اود الله ﷻ پیغام رسولوکښې هیڅ ویره نه خوری.دالله ﷻ نصرت اوامداد کافی دی.ددې منصب په پوره کولوکښې دټولو پیشوابلکه په یوامرکښې د ټولو سردار حضرت محمدرسول الله ﷺ دی. خیال اوکړئی چه په مشرق اومغرب کښې هریوبنیادم ته حضوراکرم ﷺ د الله ﷻ د دین تبلیغ اوکړو اوتر کومې چه دالله تعالی دین په ټوله دنیاکښې خورنه شو حضور ﷺ د الله ﷻ د دین په خورولوکښې یوشان مشغول وو. دحضور ﷺ نه وراندې ټول انبیاء کرام دخپل خپل امت طرف ته راغلی وو خوحضور ﷺ د ټولې دنیادپاره د الله ﷻ رسول جوړشوی راغلې دی.په قرآن کښې د الله ﷻ ارشاد دی چه خلقوته اعلان اوکړه چه زه ستاسود ټولوطرف ته د الله ﷻ رسول یم. سلام علیه. بیادحضور ﷺ نه پس دتبلیغ منصب امت ته ملاوشو.په دوی کښې د ټولوسرداران صحابه کرام ﷺ دی. کوم څه چه هغوی د حضور ﷺ نه زده کړې ووټول هر څه ئې روستونوخلقوته اوخودل. ټول اقوال افعال او احوال د شپې ورځې د سفراوحضرښکاره اوپټ ئې د دنیا په وراندې کیخودل الله ﷻ دی په هغوی باندې خپله رضامندی نازله کړی بیاد هغوی نه پس د هغوی وارثان شو اودغه شان هر یو روستو راتلونکې دخپل وراندینی وارث جوړشو اوپه دې سره د الله ﷻ دین خورشو اوقرآن اوحدیث د خلقوپه

Scanned with Ca

غوږونو کښې پريوتلو. دهدايت والا ددې په اقتداء کښې منورشو اودخيرد توفيق والا د هغوی په مسلك روان شو دالله تعالی چه کريم ذات دې نه زمونږ دعاده چه هغه دې مونږ هم د دوی نه کړی. آمين.

قوله تعالی:- مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ

د حضور ﷺ اولاد:- مسنداحمد کښې دی چه په تاسوکښې دې څوك هم خپل خان ذليل کوی نه خلقو وښيل حضور ﷺ داڅنګه؟وئی فرمائيل چه د شرع خلاف کاراووينی اود خلقو د ويرې خاموش پاتې شی د قيامت په روځ به د ده نه تپوس پوښتنه کيږی چه ته ولې چپ پاتې شوې؟ دې به وانی د خلقو د ويرې الله ﷻ به فرمائی د ټولونه زياته ويره ساتلو قابل خوزما ذات وو(۱) بيا الله ﷻ منع کول کوی چه چاته هم د رسول الله ﷺ خوئ اونه وائې خلقو چه به کوم زيدبن محمدوئيلواودهغې بيان پورته تيرشوې دې نو الله تعالی فرمائی چه نبی کريم ﷺ د زيدپلار نه دې. هم داسې اوشوچه دحضور ﷺ يونارينه اولاد هم بلوغت ته اونه رسيدو. بيا د حضرت ماريه قبطيه رضی الله عنها نه يوماشوم پيداشو دهغه نوم ابراهيم وو خودې هم دپنيوڅکلوپه زمانه کښې وفات شو.دحضور ﷺ لونړه د حضرت خديجه بی بی رضی الله عنها نه څلور وې زينب رقيه ام کلثوم اوفاطمه رضی الله عنهن. په دې کښې دري خودحضور ﷺ په ژوند کښې وفات شوې صرف دحضرت فاطمه رضی الله عنها وفات دحضور ﷺ نه شپږ مياشتې پس شوې دې.

حضور اقدس ﷺ أخری نبی دې :- بيافرمائی چه حضور ﷺ د الله ﷻ رسول اوخاتم النبيين دې. کوم خائ چه الله ﷻ ته ښه پته ده چه کوم خائ کښې خپل رسول غواړی. دا آيت نص دې په دې امر باندې چه د حضور ﷺ نه پس بل نبی نشته اوچه کله نبی نشته نو رسول به څه وی؟ هيڅ يونبی يارسول به روستونه راځی. رسالت خود نبوت نه هم خاص څيز دې هريورسول نبی دې خوهرنبی رسول نه دې.

قوله تعالی:- وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ

د ختم نبوت متعلق احاديث:- په متواتر احاديثوسره هم رسول الله ﷺ خاتم النبيين ثابت دې. د ډيرو زياتو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه دا احاديث روايت شوی دی. مسنداحمدکښې رسول الله ﷺ فرمائی زما مثال په انبياء کرامو کښې داسې دې لکه چه يوسړی ډير ښکلې او پوره مکان جوړکړې وی خو په هغې کښې ئی د يوې خښتې خائ پريخودې وی او په هغې کښې ئی هيڅ نه وی ايخودې. خلق د دې د څلورو واړو طرفونښه خيال ساتی اود دې په جوړيدو باندې خوشحاله وی ولې وائی چه څومره به ښه وه چه دا يوه خښته ئی هم کيخودې وې. نو زه په انبياء کرامو کښې هم د دغه خښتې خائ يم(۲) امام ترمذی رحمه الله هم داحديث راوړې دې اودې ته ئی حسن صحيح وئيلې دې.مسنداحمدکښې رسول الله ﷺ فرمائی رسالت اونبوت ختم شو زما نه پس نه څوك نبی شته نه رسول. په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې داخبره ګرانه پريوتله نو حضور ﷺ اوفرمائيل دازيری ورکونکی صحابه کرامو رضی الله عنهم تپوس کوی دا زيری ورکونکی څوك دی؟ وئی فرمائيل د مسلمانانو خوبونه چه د نبوت د اجزاؤ نه يوجز دې. داحديث هم په ترمذی شريف کښې دې امام ترمذی رحمه الله دې ته صحيح غريب وائی. (۳)

دمحل د مثال والا حديث په طيالسی کښې هم دې د دې په آخره کښې دادی چه زه د دغه خښتې خائ يم.په ما سره انبياءکرام ختم کړې شو دا بخاری مسلم اوترمذی(۴) هم راوړلې دې. د مسند د دې حديث په سند کښې دی چه زه راغلم اود دغه خالی خښتې خائ مې ډک کړو.(۵) مسندکښې دی چه مانه پس

---

۱) ابن ماجه کتاب الفتن باب الامربالمعروف والنهی عن المنکر:۴۰۰۸ احمد:۳/۳۰.

۲) ترمذی کتاب المناقب باب ((سلوالله لی الوسلة....)):۳۶۱۳وهوحسن، احمد:۵/۱۳۶-۱۳۷.

۳) ترمذی کتاب الرويا باب ذهبت النبوة وبقيت المبشرات:۲۲۷۲وسنده صحيح، احمد:۳/۲۶۷.

۴) صحيح بخاری کتاب المناقب باب خاتم النبيين ﷺ:۳۵۳۴، صحيح مسلم:۲۲۸۷، مسندالطيالسی:۱۷۸۵.

۵) صحيح مسلم کتاب الفضائل باب ذکر کونه ﷺ خاتم النبيين:۲۲۸۶، احمد:۳/۹.

Scanned with Ca

نبی نشته خود زیری والا. تپوس اوکړې شو یارسول الله ﷺ هغه څوک دی؟ وئې فرمائیل نیك خوب. (۱) عبدالرزاق وغیره کښې د محل والا په حدیث کښې دی چه خلق دې ته ګوری نود محل والا ته وائی چه تاد دې خښتې ځائ ولې پریخې دې نوزه هم هغه خښته یم.(۲) صحیح مسلم شریف کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی ماته په ټولو انبیاؤکرامو باندې شپږ فضیلتونه راکړی شوی دی. ماته جامع کلمات راکړې شوی دی. صرف په رعب باندې زما امدادکړې شوې دې. زما د پاره دغنیمتونومال حلال کړې شوې دې. زما د پاره ټوله زمکه جمات اواودس جوړکړې شوې دې. زه د ټول مخلوق طرف ته نبی جوړکړې رالیګلې شوې یم. اوزما سره انبیاء کرام ختم کړې شوی دی.(۳) داحدیث په ترمذی شریف کښې هم دې او امام ترمذی رحمۃ اللہ علیہ دې ته حسن صحیح وائی. په صحیح مسلم وغیره کښې د محل والا حدیث په مثال والا روایت کښې دالفاظ هم راغلی دی چه زه راغلم اوماد دې خښتې ځائ پوره کړو(۴)مسند احمد کښې دی چه زه د الله ﷻ په نیز دانبیاؤکرامو ختمونکې ووم د هغه وخت نه چه لا آدم ﷺ په پوره توګه پیدا کړې شوې هم نه وو. (۵)

د نبی کریم ﷺ یوځونومونه:- په یوبل حدیث کښې دی چه زمایوځونومونه دی زه محمدیم، زه احمدیم، او زه ماحی یم، الله ﷻ به زماپه وجه کفر ختم کړی اوزه حاشر یم د ټولوخلقو حشر زما د قدمونولاندې دې.اوزه عاقب یم د چانه پس چه یونبی هم نشته.(۶)حضرت عبدالله بن عمروﷺ فرمائی یوه ورځ حضوراکرم ﷺ مونږ له راغلو لکه چه هغوی رخصت کول کوی اودرې ځل ئی دا اوفرمائیل زه نبی امی یم زما نه پس بل څوک نبی نشته. ماته فاتح کلمات راکړې شوی دی اوډیر جامع او په پوره توګه زه پوهیږم چه د دوزخ داروغه ګان څومره دی.اودعرش اوچتونکی څومره دی.زما خپل امت سره پیژندګلو کړې شوې ده. ترکومې چه زه په تاسو کښې یم زما اورئی اومنئی. کله چه زه رخصت شم نود الله ﷻ کتاب اونیسئی اود دې حلال حلال اوحرام ئی حرام اوګنړئی. (۷)

د حضور ﷺ نه پس چه څوک د نبوت دعوی اوکړی هغه دروغژن دې :- په دې باره کښې نورهم ډیر احادیث دی.د الله ﷻ په دې وسیع رحمت باندې دهغه شکر کول پکاردی چه هغه په خپل رحم اوکرم سره دومره لوئ رسول راولیګلو اوهغه ئی خاتم المرسلین اوخاتم النبیین جوړکړو اویوشان آسان ربښتونې اوسهل دین دحضور ﷺ په لاسونومبارکو کمال ته اورسیدو.رب العالمین په خپل کتاب کښې اورحمۃ للعالمین په خپلو متواترو احادیثوکښې داخبرورکړې دې چه د هغوی نه پس هیڅ یونبی نشته. نوچه کوم سړې هم د حضور ﷺ نه پس د نبوت یارسالت دعوی کوی هغه دروغژن مفتری دجال ګمراه اوګمراه کونکې دې سره د دې که جادوګری اوښائی اولوئ لوئ کمالونه اوکړی او عقل حیرانونکې څیز پیش کړی او قسم قسم نوې نوې څیزونه اوښائی خوعقل مندپوهیږی چه دا ټول فریب دهوکه اومکر دې. د یمن د نبوت دعوی کونکې عنسی اود یمامه د نبوت مدعی مسیلمه کذاب ته اوګورئی چه څنګه هغوی وو هم هغه شان ئی اوګنړل پوهه شو اود هغوی اصلیت په ټولو باندې ښکاره شو. تردې چه دټولونه پس به آخر

---

۱) احمد:۵/۴۵۴وسنده صحیح، مجمع الزوائد:۷/۱۷۳.
۲) صحیح بخاری کتاب المناقب باب خاتم النبیین ﷺ:۳۵۳۵، صحیح مسلم:۲۲۸۶، احمد:۲/۳۱۲، ابن حبان:۶۴۰۵.
۳) صحیح مسلم کتاب المساجد باب المساجد ومواضع الصلاۃ:۵۲۳، ترمذی:۱۵۵۳، ابن ماجه:۵۶۷ مختصرا.
۴) صحیح مسلم :۲۲۸۷وترقیم دارالسلام:۵۹۶۳.
۵) احمد:۴/۱۲۷وسنده حسن التاریخ الکبیر:۶/۶۸،ابن حبان:۶۴۰۴، السنة لابن ابی عاصم:۴۰۸،مجمع الزوائد:۸/۲۲۳.
۶) صحیح بخاری کتاب المناقب باب ماجاء فی اسماء رسول الله ﷺ:۳۵۳۲، صحیح مسلم:۲۳۵۴، مسندالطیالسی:۹۲۴، احمد:۴/۸۰، مصنف عبدالرزاق:۹۷۵۷، ترمذی:۲۸۴، ابن حبان:۶۳۱۳، مسندحمیدی:۵۵۵.
۷) احمد:۲/۲۱۲

مسیح دجال راځی. دهغه په علامتونوکښې یوعلامت داهم دې چه هریوعالم اوهریومؤمن به د هغه دروغوباندې پوهیږی.

داصلی او جعلی نبی په مینځ کښې فرق:- نوداهم دالله ﷻیونعمت دې چه داسې دروغژنو دعویدارونه دا هډونصیب کیږی نه چه هغوی د نیکنی حکم اوکړی یا د بدنی نه منع کول اوکړی. اوپه کومو احکامو کښې چه د هغوی خپل مقصدوی په هغې باندې ډیرزیات زور ورکوی. د هغوی اقوال اوافعال د ځان نه او د فسق اوفجوروالاوی.لکه چه ارشاد باری تعالی دې ﴿هَلْ اُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ ۝ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ﴾(۱)یعنی آیا زه تاسو ته اوښایم چه شیطانان چاله راځی؟ هریو بهتان ترونکی ګناهګار له، د رښتونو انبیاء کرامو حال د دې بالکل خلاف وی. هغوی ډیر زیات دنیکنی والا ډیر رښتونې د هدایت والا استقامت والا د قول اوفعل ښکلې د نیکو حکم ورکونکی د بدو نه منع کونکی وی. اودې سره د الله ﷻ دطرف نه د هغوی تائیدکیږی په معجزو او د عادت نه خلاف څیزونوسره دهغوی صداقت نور زیات ښکاره کیږی. اودومره واضح ښکاره اوصفا دلیلونه د هغوی په نبوت باندې وی چه قلب سلیم د هغې په منلوباندې مجبورکیږی.الله ﷻ دې په خپلو ټولورښتیاو انبیاء کرامو د قیامته پورې خپل درود اوسلام نازلوی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اذْكُرُوا				
اے هغه کسانو	چې ایمان موراوړې دې	یادوئ				
.....	ائې مومنانو	تاسو الله ﷻ	لره			
اللّٰهَ	ذِكْرًا كَثِيْرًا ۝	وَّسَبِّحُوْهُ	بُكْرَةً	وَّاَصِيْلًا ۝	هُوَ الَّذِيْ	
الله	په یادولو ډیرو سره	او پاکی بیانوئ دهغه	سحر	او مابنام	هغه هغه ذات دې	
ډیر ډیر یادوئ	اوسحر مابنام دهغهٔ پاکی بیانوئ	الله ﷻ داسې ذات دې	چې دې په تاسو رحمتونه			
يُصَلِّيْ	عَلَيْكُمْ	وَمَلٰٓئِكَتُهٗ	لِيُخْرِجَكُمْ	مِّنَ الظُّلُمٰتِ		
چې رحمت وانې	په تاسو باندې	او فرښتې دهغه	دپاره ددې چې راوباسی تاسو	دتیرونه		
راوروی	اودهغه فرشتې ستاسو دپاره دعاګانې کوی	چې د (کفر) د تورو تیارو نه موراسلام				
اِلَى النُّوْرِ ؕ	وَكَانَ	بِالْمُؤْمِنِيْنَ	رَحِيْمًا ۝	تَحِيَّتُهُمْ	يَوْمَ	
رنړا ته	او دې	په مومنانو باندې	ډیر مهربانه	اسقبال دهغوئ به	په هغه ورځ	
رنړا ته راوباسی	او دې په مومنانو ډیر مهربان دې	الله ﷻ سره د ملاقات په ورځ				
يَلْقَوْنَهٗ	سَلٰمٌ ۚ	وَاَعَدَّ	لَهُمْ	اَجْرًا كَرِيْمًا ۝		
چې ملاویږی دهغه سره	په سلام سره وی	او تیار کړې دې الله	دپاره دهغوئ	اجر عزتمند		
به ددوئ دعا دا وی	چې السلام علیکم	اوالله ﷻ د دوی دپاره ډیره ښه بدله تیاره کړې ده				

قوله تعالی:- يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ

د الله ﷻ د ذکر فضائل اومسائل:- د ډیروزیاتو انعام کونکو د پاره د الله ﷻ حکم کولې شی چه مونږله د هغه ذکر په کثرت سره کول پکاردی اوپه دې کښې هم مونږ ته د لویو نعمتونواود ډیر لوئ اجراوثواب

(۱) ۲٦/الشعراء:۲۲۱-۲۲۲.

وعده راکولې شی.یوځل رسول الله ﷺ اوفرمائیل ایا زه ستاسو بهتر عمل اودیرزیات صفاکار اود تولو نه د لوئی درجې نیکی اوسره اوسپین زرد الله ﷻ په لارکښې د خرچ کولو نه زیات بهتر اود جهاد نه زیات غوره کار اونه ښایم؟ خلقو تپوس اوکړو حضور ﷺ هغه څه څیز دې؟ ونی فرمانیل د الله ﷻ عزوجل ذکر(۱)داحدیث اول﴿ وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴾(۲)په تفسیرکښې تیرشوې دې. حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی ماد رسول الله ﷺ نه دادعاواوریده کومه چه زه یووخت هم نه پریږدم.((**اللهم اجعلني اعظم شكرك واتبع نصيحتك واكثر ذكرك واحفظ وصيتك**)) یعنی ای الله ته ماخپل ډیر زیات شکر کونکی فرمانبردار په کثرت سره ذکرکونکی اوستاد احکامو حفاظت کونکی جوړکړی(۳)دوه اعرابیان رسول الله ﷺ له راغله. یوتپوس اوکړودتولونه ښه سړې څوک دې؟حضور ﷺ اوفرمائیل چه څوک ډیر عمر ته اورسی اونیك عمل اوکړی. بل تپوس اوکړواحکام اسلام خو ډیر زیات دی ماته چرته د یو وړوکی حکم راکړئې چه هم هغې سره اونخلم. حضور ﷺ اوفرمائیل د الله ﷻ په ذکر باندې هروخت خپله ژبه لمده ساته(۴)فرمانی چه هروخت دالله ﷻ په ذکرکښې مشغول اوسه تردې چه خلق تاته لیونې اووائی. (۵) فرمائی چه د الله ﷻ ذکر په کثرت سره کوه تردې چه خلق منافق یا ریاکار اووائی (۶)

فرمانی کوم خلق چه په یومجلس کښې کینی اوهلته د الله ﷻ ذکر نه وی هغه مجلس به دقیامت په ورځ په هغوی باندې دارمان اوافسوس ذریعه جوړیږی(۷)حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی د هر یو فرض کاریوحددې اوهغه بیاد عذر په حالت کښې معاف هم دې خود الله ﷻ د ذکر هیڅ حدنشته نه یو وخت روستوکولې شی اودا ده که څوك لیونې وی نو هغه بله خبره ده. په ولاړه ناسته د شپې ورځې او چه لمده سفر حضر مالداری اوفقیری صحت او بیماری پټ اوښکاره غرض په هرحالت کښې د الله ﷻ ذکرکول پکاردی. سحر مابنام د الله ﷻ تسبیح بیانول پکاردی. تاسو چه کله هم دا کوئی نوالله تعالی به په تاسو رحمتونه نازلوی اوفرښتې به هروخت تاسو ته دعاګانې کوی(۸)په دې باره کښې نورهم ډیر احادیث دی. اوپه دې آیت کښې هم په کثرت سره د الله ﷻ د ذکرهدایت کیږی. بزرګانو دالله تعالی د ذکراودوظائفوډیرمستقل کتابونه لیکلی دی لکه امام نسائی امام معمری ﷺ وغیره.

په دې تولوکښې د تولونه بهترین کتاب په دې موضوع دامام نووی ﷺ دې. سحرمابنام د هغه تسبیح کوئی.لکه چه فرمائی ﴿ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴾(۹)دالله ﷻ دپاره پاکی ده کله چه تاسو مابنام کوئی یا سحر کوئی هم د هغه دپاره حمددې په آسمانونوکښې اوپه زمکوکښې اوپس د زوال نه اود ماسپښین په وخت کښې. بیا د دې فضیلت بیانول اود دې طرف ته رغبت ورکولود پاره فرمائی﴿ كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴾ (۱۰) څنګه چه مونږ په تاسوکښې خپل رسول اولیکلو چه په تاسو باندې زمونږ آیاتونه تلاوت کوی اوتاسو پاك کوی

---

۱) ترمذی کتاب الدعوات باب نمبر۲ حدیث:۳۳۷۷وسنده حسن، ابن ماجه:۳۷۹۰،احمد:٤٤٦/٦، حاکم:٤٩٦/١.
۲) ۳۳/الاحزاب:۳۵.
۳) ترمذی کتاب الدعوات باب دعاء ((اللهم اعظم شکرك....)):۳٦۰٤.
۴) ترمذی کتاب الدعوات باب ماجاء فی فضل الذکر:۳۳۷۵ وسنده حسن،ابن ماجه: ۳۷۹۳، احمد:۱۹۰/٤، حاکم:٤٩٥/١.
۵) احمد:٦٨/٣ حاکم:٤٩٩/١، ابن حبان:٨١٧، مسندابی یعلی: ۱۳۷٦، شعب الایمان:٥٢٦.
۶) طبران:۱۲۷۸٦ حلیة الاولیاء:۸۰/۳.
۷) احمد:۲۲٤/۲وهوحدیث حسن، مجمع الزوائد:۸۰/۱۰..
۸) الطبری: ۲۸۰/۲۰.
۹) ۳۰/الزمر:۱۷. الخ
۱۰) ۲/البقرة:۱۵۱.الخ

Scanned with Ca

او تاسو ته کتاب اوحکمت ښائی اوهغه درته ښائی کوم چه تاسو نه پیژندلو. نوتاسو زما ذکر کوئی زه به تاسو یادوم اوتاسوزما شکر کوئی زماناشکری مه کوئی. په حدیث قدسی کښې الله ﷻ فرمائی څوک چه ماپه خپل زړه کښې یادوی زه هم هغه په خپل زړه کښې یادوم اوڅوک چه ما په یوه ډله کښې یادوی زه هم هغه په ډله کښې یادوم چه دهغه د ډلې نه به بهتروی. (۱)

قوله تعالی:- هُوَالَّذِیْ یُصَلِّیْ عَلَیْکُمْ

د صلوة معانی:- صلوة چه کله د الله ﷻ طرف ته مضاف وی نومطلب دا وی چه الله ﷻ د ده نیکی د فرښتو مخامخ بیانوی(۲)یوبل قول کښې دی دی نه مراد رحمت دی اود دواړو اقوالوانجام هم یو دی دفرښتوصلوة دهغوی دعااواستغفاردی لکه چه بل آیت کښې دی﴿اَلَّذِیْنَ یَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ یُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَیُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَیَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا وَسِعْتَ کُلَّ شَیْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِیْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِیْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِیْمِ﴾ (۳) دعرش اوچتونکی اودی سره خواوشاد خپل رب حمداوثنابیانوی او په هغه باندی ایمان راوړی او د مؤمنانوبندیګانود پاره استغفار کوی چه ای زمونږه ربه تاسو هریوڅیز په رحمت اوعلم سره راګیر کړی دی.ای الله ته هغه اوبښه کوم چه توبه کوی اوستاپه لار روان دی هغوی له ددوزخ د اورنه هم خلاصی ورکړه.هغوی هغه جنتونوته بوځه دکوم چه تاهغوی سره وعده کړې اودوی هم هغوی له اورسوه چه د دوی په پلارانو نیکونو ښځو اولاد کښې نیکان وی دوی د بدو نه بچ کړه. الخ. هغه خپل رحمت په تاسو نازلولوسره د فرښتودعاګانې ستاسو په حق کښې قبلوی تاسو د جهالت اوګمراهئی د تیارونه راوباسی اود هدایت اود یقین د نور طرف ته مو اوړی. هغه په دنیا اوآخرت کښې په مؤمنانو باندې رحیم اوکریم دی په دنیاکښې دحق طرف ته د هغوی لارخودنه کوی اورزق ورکوی اوپه آخرت کښې د ویرې خوف نه بچ کوی. فرښتې به راځی اودوی ته به زیری ورکوی چه تاسو د دوزخ نه آزاد ئی او جنتیان ئی. ځکه چه د فرښتوزړونه د مؤمنانو د مینې اومحبت نه ډک دی.

دالله ﷻ مینه او د مور مینه:- حضور ﷺ یوځل خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره په یوه لار روان وو په لارکښې یو وړوکې ماشوم وو. د هغه مور چه کله یوه ډله خپل طرف ته راتلونکې اولیده نو چغې کړې چه زما بچې زما بچې او په منډه راغله ماشوم ئی په غیر کښې اوچت کړو او یوطرف ته شوه. د مور دې مینې ته چه ئی اوکتل نو صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو یارسول الله ﷺ خیال اوکړئی دا به خپل ماشوم په اور کښې واچوی؟ حضور ﷺ دهغوی په مطلب باندې پوهه شوه وئی فرمائیل په الله ﷻ قسم هغه به هم خپل دوستان په اور کښې نه اچوی؟ (۴)

په صحیح بخاری شریف کښې دی حضوراکرم ﷺ یوه قیدی ښځه اولیدله چه هغې خپل ماشوم کتو سره راوچت کړو.اوخپلې سینې سره ئی اولګولو او پئی ئی پرې اوڅکول حضور ﷺ اوفرمائیل وایه کنه که د دې په اختیارکښې وی نودا په خپل دا بچې په خپله خوشحالئی سره په اورکښې اوغورزوی؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو هیڅ چرې هم نه. حضوراکرم ﷺ اوفرمائیل په الله ﷻ قسم الله ﷻ په خپلو بندیګانو باندې د دې نه ډیر مهربان دی. (۵) د الله ﷻ د طرف نه به د دوی تحفه کله چه ملاوشی د هغه سلام به وی. لکه چه ارشاد دی ﴿سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِیْمٍ﴾ (۶) قتاده رحمه الله فرمائی چه په خپل مینځ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿ویحذرکم الله نفسه﴾:۷٤۰٦، صحیح مسلم:۲٦۷۵،احمد:۲/۲۵۱، ابن حبان:۳۲۸.

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله ﴿ان الله وملائکته یصلون علی النبی﴾: تعلیقًا قبل حدیث:٤۷۹۷.

(۳) ٤۰/المؤمن:۷.

(٤) احمد:۳/۱۰٤ ح ۱۲۰۱۸ مسند ابی یعلی:۳۷٤۷،مجمع الزوائد:۱۰/۲۱۲. (مسند احمد).

(۵) صحیح بخاری کتاب الادب باب رحمة الولدوتقبیله ومانقته:۵۹۹۹، صحیح مسلم: ۲۷۵٤، الاسماء والصفات:۱۰۳۹.

(۶) ۳٦/یس:۵۸.

کښې به یوبل ته سلام کوی. (۱)ددې تائید هم ددې آیت ﴿ دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾(۲) نه کیږی.الله ﷻ د هغوی د پاره لوئ اجر یعنی جنت سره د نعمتونوتیار ساتلې دي. په کوم کښې چه به هریونعمت خوراک خښاک اغوستل اچول ښځې خوندونه نظارې وغیره داسې دی چه نن خودچا په خوب اوخیال کښې هم نه شی راتلې نو په کتو او اوریدو کښې به څه راشی.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ	اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ	شَاهِدًا	وَّمُبَشِّرًا	وَّنَذِيْرًا ۙ	
اے نبی	بیشکه لیږلې ئې مونږ ته	ګواهی کونکې	زیږې ورکونکې	او یرونکې	
ائې پیغمبره! مونږ ته یو ګواهی کونکې (نیکانو ته)زیږې ورکونکې د (بدانو) ویرونکې					
وَّدَاعِيًا	اِلَى اللّٰهِ	بِاِذْنِهٖ	وَسِرَاجًا	مُّنِيْرًا ۝	وَبَشِّرِ
او دعوت ورکونکې	الله ته	په حکم دهغه سره	او ډیوه	روښانه کونکې	او زیږې ورکړه
اودالله ﷻ طرف ته دهغه په حکم رابلونکې اویوه روښانه ډیوه (په دې صفاتو موصوف) لیږلې ئې	اوته				
الْمُؤْمِنِيْنَ	بِاَنَّ	لَهُمْ	مِّنَ اللّٰهِ	فَضْلًا	كَبِيْرًا ۝	وَلَا تُطِعِ
مومنانو ته	چې بیشکه	دپاره دهغوئ	دطرفه دالله نه	فضل	لوئ دي	او حکم مه منه
مومنانو ته زیږې ورکړه	چې په هغوئ باندې دالله ﷻ لوئې فضل کیدونکې دي	اود کافرانو او				
الْكٰفِرِيْنَ	وَالْمُنٰفِقِيْنَ	وَدَعْ	اَذٰىهُمْ	وَتَوَكَّلْ	
دکافرانو	او منافقانو	او پریږده (پر وامه کوه)	دتکلیفونو دهغوئ	او بروسه اوکړه	
منافقانو تابعداری مه کوه	او د دوئ د تکلیفونو دررسولو پرواه مه کوه (بلکه په هغې صبر کوه) او				
عَلَى اللّٰهِ ؕ	وَكَفٰى بِاللّٰهِ	وَكِيْلًا ۝			
په الله باندې	او کافی دي	الله	چې سړې معاملات ورحواله کړی		
په الله ﷻ بهروسه کوه	او الله ﷻ درله کافی کارساز دي				

قوله تعالی:- يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۙ

د حضوراکرم ﷺ اوچت صفتونه:-عطاء بن یسار رحمه الله فرمائی ماعبدالله بن عمروبن عاص رضی الله عنه ته اووئیل د حضوراکرم ﷺ صفتونه په تورات کښې څه دی؟ وئی فرمائیل چه کوم صفتونه ستاسو په قرآن کښې دی هم د دې نه بعضې صفتونه ستاسو په تورات کښې هم دی.

د نبی کریم ﷺ صفت په توراة کښې:-په تورات کښې دی ای نبی مونږ ته ګواه اوخوشحالی اورونکې یرونکې امتونه بچ کونکې جوړکړې ته زما بنده اورسول ئی. ماستانوم متوکل کیخودې دې ته خرابې خبرې کونکې اوفحش خبرې کونکې نه ئی اونه په بازارونوکښې شورکونکې.هغه د بدئی په بدله کښې بدی نه کوی بلکه معافی کوی. دې به الله ﷻ نه قبض کوی ترکومې چه د خلقو کوڅ کړې شوې دین د هغه په ذات سره بالکل نیغ نه کړی اوهغوی د لااله الاالله قائل نه شی. په کوم سره چه رندې سترګې بینا شی او کانړه غوږونه اوریدونکی جوړشی اود پردو والا زړونونه زنګ لاړشی. (۳)

---

(۱) الطبری: ۲۰/۲۸۰.

(۲) ۱۰/یونس: ۱۰.

(۳) صحیح بخاری کتاب البیوع باب کراهیة السخب فی السوق: ۲۱۲۵، احمد: ۲/۱۷۴.

Scanned with Ca

د نبی کریم ﷺ صفت د بنی اسرائیلو د یو نبی په ژبه:-ابن ابی حاتم کښې دی حضرت وهب بن منبه رحمه الله فرمائی دبنی اسرائیلویونبی حضرت شعیا علیه السلام باندې الله ﷻ وحی نازله کړه چه خپل قوم بنی اسرائیل کښې اودریږه زه به ستاپه ژبه باندې خپلې خبرې اوکړم. زه په امیانوکښې یوخپل امی نبی لیګونکی یم نه بداخلاق دې نه بدخویه نه بازارونوکښې شورکونکې دې دومره د سکون والا دې که چراغ سره خواکې هم تیرشی نوهغه به مړ نه شی. اوکه پانړو باندې تیرشی نوهم دپښې چاپ به ئی معلوم نه شی. زه به هغه زیرې ورکونکې ویرونکې جوړوم لیګم به ئی چه حق خبرې به کوی. زه به دهغه په وجه رندې سترګې بیناکړم اوکانړو غوږونوباندې به واوروم اوزنګ شوی زړونه به صفاکړم.دهرې نیکئی طرف ته به دهغه لارخودنه کوم هریونیك خصلت به په هغه کښې موجودکړم.دزړه تسلی به دهغه لباس وی نیکی به دهغه طریقه وی.تقوی به دهغه ضمیروی.حکمت به دهغه خبرې وی.صدق اووفابه دهغه عادت وی.عفواومعاف کول به دهغه اخلاق وی.حق به دهغه شریعت وی.عدل به دهغه سیرت وی. هدایت به د هغه امام وی.اسلام به د هغه دین وی.احمدبه د هغه نوم وی.کمراهانوته به د هغه په وجه زه هدایت ورکوم.جاهلان به دهغه په ذریعه باندې عالمان جوړوم. د تنزل والا به ترقئی ته رسوم. ناپیژند ګلو به مشهور او معروف جوړکړم. قلت به د هغه په وجه په کثرت سره او فقیری په مالدارئی سره جدا والې په مینې سره اواختلاف په اتفاق سره بدل کړم.مختلف اومتضاد زړونه به متفق او متحدکړم بیل بیل خواهشونه به رایوځائ کړم.دنیا به د هغه په وجه د هلاکت نه بچ کړم. د ټولوامتونونه به دهغه امت اوچت اوغوره کړم.هغوی به د خلقو دفائدې د پاره په دنیاکښې راپیداکیږی. هر یوته به د نیکئی حکم ورکوی اود بدئی نه به ئی منع کوی. هغوی به موحد وی اوهغوی به مؤمنان وی د اخلاص والا به وی. په رسولانو باندې چه کوم څه نازل شوی دی هغه ټول به ریښتیامنونکی وی.هغوی به په خپلو جماتونو کښې په خپلو بستروباندې په ګرځیدو راګرځیدو ناسته ولاړه زماتسبیح حمداوثنا بزرګی اولونی بیانوی.په ولاړه اوناسته به مونځونه اداکوی.دالله ﷻ دښمنانوسره به په صفونوټرلوکښې جملوسره جهادکوی. په هغوی کښې به په زرګونوزما د رضاد پاره خپل کور بال بچ پریږدی اوځی به. مخ لاس به په اودس کښې وینځې. تهبند به د نیمې پندئی پورې تړی زما په لارکښې به قربانئی کوی زما کتاب به دهغوی په سینوکښې وی. د شپې به عبادت کونکی اود ورځ به مجاهد وی. زه به د هغه نبی په اهل بیت او اولادکښې وراندیوالې کونکی صدیق شهیداو صالح خلق پیداکوم. د هغه امت به د هغه نه پس دنیا ته دحق هدایت کوی اوپه حق سره به عدل اوانصاف کوی. دهغوی امدادکونکی به زه دعزت والا کړم اود هغوی د یوځائ کونکو به زه امدادکوی. د هغوی په مخالفینو د هغوی په دښمنانو اوباغیانو اوبدخواهانوبه زه خرابې ورځې راولم. زه به هغوی د خپل نبی وارثان جوړکړم چه دخپل رب طرف ته به خلقو له دعوت ورکوی.دنیکو خبرې به ورته ښائی اودبدو نه به ئی منع کوی. مونځونه به کوی زکاتونه به ورکوی وعدې به پوره کوی. دا خیر به زه د هغوی په لاس پوره کوم، کوم چه د هغوی نه شروع شوې وو. هم دا دې زما فضل چاته چه غواړم ورکوم اوزه د ډیر لوئ فضل اوکرم مالك یم.

علی ﷺ او معاذ ﷺ ته د نبی کریم ﷺ هدایت:- ابن ابی حاتم کښې دی چه حضور ﷺ حضرت علی ﷺ او حضرت معاذ ﷺ د یمن حاکمان جوړکړې لیګلو وو نودا آیت نازل شو. نوحضور ﷺ هغوی ته اوفرمائیل لاړ شئی زیری واوروئی او نفرت مه خوروی آسانی پیداکړئی سختی مه کوئی ګورئی په مابانديې دا آیت نازل شوې دې. (۱) په طبرانی کښې داهم دی په مابانديې دانازل شوی دی چه ای نبی مونږ ته په خپل امت باندې ګواه جوړ ګړې د جنت زیرې ورکونکې اود دوزخ نه ویرونکې جوړکړې اود الله ﷻ په حکم

(۱) طبرانی:۱۱۸٤۱

سره د هغه دتوحید د شهادت طرف ته خلق رابلونکي جوړکړي اوپه روښانه چراغ قران سره لیګلي ئی(۱) نوهغوی دالله ﷻ په وحدانیت سره چه هغه سره بل څوك معبود نشته ګواه دی.اود قیامت په ورځ به هغوی د خلقو په اعمالو باندې ګواه وی.لکه چه ارشاد دي ﴿وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا﴾ (۲) یعنی مونږ به تاپه هغوی باندې ګواه جوړوو راولوبه دي. په بل آیت کښې دی چه تاسو په دوی باندې ګواه ئی اوپه تاسو باندې دارسول ګواه دي.حضور ﷺ مؤمنانوته دښکلي اجر اوزیري اورونکي اوکافران د سخت خراب عذاب نه ویرونکي او اورونکي ئی. اود الله ﷻ حکم دي چه د دي د پوره کولو لاندې ته مخلوق د خالق د عبادت طرف ته رابلونکي ئی. ستا صداقت داسې ظاهر دي لکه د نمر رنړا. اوکه څوك ضدی اونخلی نوهغه بله خبره ده. اې نبی د کافرانو او منافقانوخبره مه منه اومه دهغوی طرفته غوږ نیسه اوهغوی معاف کوه. دا چه کوم تکلیفونه دررسوی دا په خیال کښې هم مه راوله اوپه الله ﷻ باندې پوره بهروسه کوه هغه کافی دي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	
اے هغه کسانو	
.....اې مومنانو	
آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ	
چې ایمان مو راوړې دي	کله چې نکاح اوکړئ تاسو دمومنانو ښځوسره بیا طلاق ورکړئ هغوئ له
هرکله چې دمسلمانانو ښځو سره نکاح اوکړئی	بیا دلاس لګولو نه وړاندې ورته طلاق ورکړئ
مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ	
مخکښې ددې نه	چې تاسو مسح کړئ هغوئ نو لازم نۀ دي ستاسو دطرفنه په هغوئ باندې
..... نو ستاسود طلاق په وجه دهغوئ دپاره هیڅ عدت نشته	
مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا فَمَتِّعُوهُنَّ	
هیڅ عدت	چې تاسو مطالبه اوکړئ دپوره کیدو دهغې پس (نفع) څه مال ورکړئ هغوئ له
چې شمیر ئې کړئ	.....نو څه مناسب سامان ورته ورکړئی
وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا	
او ازادې کړئ هغوئ	په ازادلو ښو سره
اوپه ښه طریقه ئې رخصت کړئی	

قوله تعالی:- ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ

که د جماع نه اول طلاق ورکړې شی نوڅنګه ده؟:- په دې آیت کښې ډیراحکام دی. دې نه معلومیږی چه صرف په عقدسره هم دنکاح اطلاق کیږی. ددې په ثبوت کښې د دې نه زیات د صراحت والا آیت بل نشته.پدې کښې اختلاف دې چه لفظ نکاح په حقیقت کښې صرف دایجاب اوقبول دپاره دي؟که صرف د جماع د پاره دي؟یاد دې دواړو د مجموعې دپاره دي؟ په قرآن کریم کښې اطلاق عقداووطی دواړو باندې دي. خو په دې آیت کښې صرف په عقدباندې اطلاق دي. د دې آیت نه داهم ثابتیږی چه د

(۱) مجمع الزوائد:۹۲/۷
(۲) ۴/النساء:۴۱.

Scanned with Ca

دخول نه اول هم سړي خپلي ښځي ته طلاق ورکولي شي. د مؤمنات ذکردلته په وجه دغلبه شوي دي
ګڼي داهل کتابوپه ښځوباندي هم دغه حکم دي. دسلفو يوې لوئې ډلې د دې آيت نه استدلال کولوسره
ونيلی دی چه طلاق هم هغه وخت واقع کيږی کله چه د دې نه اول نکاح شوې وی. په دې آيت کښې د
نکاح ته پس طلاق فرمائيلي دي نومعلومه شوه چه د نکاح نه اول نه طلاق صحيح دي اونه واقع کيږی
(۱)امام شافعی اوامام احمد رحمهما الله اود ډير لوئ جماعت د سلف اوخلف دامذهب دي. د امام مالك اوامام
ابوحنيفه رحمهما الله خيال دا دي چه د نکاح نه اول هم طلاق صحيح کيږی. مثلاً يوسړي اووائی چه که ما
فلانکي ښځي سره نکاح اوکړه نو په هغه باندي طلاقه ده نوچه اوس کله هم دي سره نکاح اوکړی نوبيه
هغه باندي طلاقه ده. بيا د امام مالك اوامام ابوحنيفه رحمهما الله په دې کښې په هغه سړی باندي اختلاق
دي چه اووائی کومي ښځي سره چه هغه نکاح اوکړی په هغه طلاقه ده نوامام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی
کومې سره چه هغه نکاح اوکړی هغه به طلاقه وی

د نکاح نه وړندې هم د طلاق واقع کول صحيح کيږی

مسلک حنفی:- کله چې يو سړې اجنبی ښځي ته اووائی چې کله هم ته زما په نکاح کښې راشی نو ته دې طلاقه يې نو په نکاح کښې راتلو سره دغه ښځه په هر وار طلاقيږی اګرچې د بل خاوند سره نکاح اوکړی اوهغه ورته طلاق ورکړی (تسهيل الهدايه شرح هدايه ۳۴۱۱۳).

اود امام مالك رحمه الله قول دي چه نه به کيږی. ځکه چه يوه خاص ښځه هغه نه ده يااده کړې. جمهور چه د دې خلاف دی د هغوی دليل دا آيت دې. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه چاتپوس اوکړو که د نکاح نه مخکې يو سړی دا ونيلې چه زه د کومې ښځې سره نکاح اوکړم نو هغه په ده طلاقه ده د دې څه حکم دي؟ هغوی دا آيت تلاوت کړو اووئی فرمائيل په دې صورت کښې به طلاق نه کيږی. ځکه چه الله رضی الله عنه رب العزت طلاق د نکاح نه پس فرمائيلي دي نود نکاح نه اول طلاق هيڅ څيز نه دي.

مسنداحمد ابوداؤد ترمذی ابن ماجه کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی بنيادم چه د کوم څيز مالك نه وی په هغې کښې طلاق نشته. (۲) يوبل حديث کښې دی چه کوم طلاق د نکاح نه وړاندې اوشی هغه په يو شميرکښې هم نه راځی(۳)الله ﷻ فرمائی چه کله تاسو ښځو له دنکاح نه اول لاس لګولونه طلاق ورکړئ نو په هغوی باندې هيڅ عدت نشته بلکه هغه چه چاسره غواړی هم هغه وخت نکاح کولې شی.اوکه په داسې حالت کښې دهغې خاوندمړشوې وی نوداحکم نه دي. دا به ځلور مياشتی او لس ورځې عدت تيروی. د علماؤ په دې باندې اتفاق دي چه د نکاح نه پس د لاس لګولو نه وړاندې که خاوند دې له طلاق ورکړونوکه مهر مقررشوې وی نود هغې نيم به ورکوی ګڼی څه لږ ډير ورکول کافی دی. يوبل آيت کښې دی ﴿ وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۖ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾(۴) يعنی که مهر مقرر شوې دي اود لاس لګولونه اول نی طلاق ورکړو نود نيم مهر حقداره ده اويوبل آيت کښې ارشاد باری تعالی دي ﴿ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً ۖ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴾(۵) يعنی که ته خپلې ښځې له د لاس لګولونه وړاندې طلاق ورکړې نو دا څه د ګناه خبره نه ده. که د هغې مهر مقررشوې نه وی نوهغې له څه نه څه ورکړه اوهغه به دخپل خپل طاقت

---

(۱) الطبری: ۲۸۳/۲۰.

(۲) ابوداؤد کتاب الطلاق باب الطلاق قبل النکاح: ۲۱۹۰وسنده حسن، ترمذی: ۱۱۸۱، ابن ماجه:۲۰۴۷،احمد: ۱۸۹/۲، حاکم:۳۰۵/۲.

(۳) ابن ماجه کتاب الطلاق باب لاطلاق قبل النکاح:۲۰۴۸وهوحسن.

(۴) ۲/البقرة:۲۳۷.

(۵) ۲/البقرة:۲۳۷.

Scanned with Ca

مطابق مالدار اوغریب د دستور مطابق دې هغې سره سلوك اوکړی په خو خلقو باندې دا ضروری دی. هم داسې یوه واقعه پخپله حضور اکرم ﷺ سره هم راپیښه شوه چه حضور ﷺ امیمه بنت شراحیل سره نکاح اوکړه دا رخصت شوه راغله.حضور ﷺ لاړو لاس نی وراوږل غوښتل خو لکه چه هغې دا خوښ نه کړه حضور ﷺ حضرت ابواُسید ؓ ته حکم اوکړو د دې سامان تیارکړه اودوه کپړې ارزقیه دې له ورکړه. (۱) نو سراج جمیل یعنی په ښه طریقه سره رخصت کول هم دا دی چه که په دې صورت کښې مهرمقرر وی نونیم ورکړنی اوکه مقررنه وی نود خپل طاقت مطابق دې هغې سره سلوك اوکړې شی. (۲)

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ	اِنَّآ	اَحْلَلْنَا	لَكَ		
ا اے نبی ا بیشکه مونږه احلالې کړې استا دپاره					
ا ائې نبی ﷺ! مونږ ستا دپاره ستا بیبیانې حلالې کړی دی					
اَزْوَاجَكَ	الّٰتِيْٓ	اٰتَيْتَ	اُجُوْرَهُنَّ	وَمَا	مَلَكَتْ
بیبیانې ستا ا هغه بیبیانې ا چې ورکړې دې تا ا مهر دهغوئ ا او هغه ښځې ا چې مالك شی ا					
چې تا ورته مهر ورکړې دې ا اوهغه ښځې هم چې ستا په ملکیت کښې دی					
يَمِيْنُكَ	مِمَّآ	اَفَآءَ اللّٰهُ	عَلَيْكَ		
ښئ لاس ستا دهغوئ ا په هغه وینځو کښې ا چې په غنیمت کښې درکړی دی الله ا تاته ا					
چې الله ﷻ درته په غنیمت کښې درکړی دی					
وَبَنٰتِ	عَمِّكَ	وَبَنٰتِ	عَمّٰتِكَ	وَبَنٰتِ خَالِكَ	وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ
اولونږه دترۀ ستا ا او لونږه دپلار دخور ستا ا اولونږه ا دماما ستا ا او لونږه دمور دخور ستا					
اوستا د ترۀ لونږه اوستا دتروریانو لونږه او ستادماماګانو لونږه اوستادخاله ګانولونږه					
الّٰتِيْ	هَاجَرْنَ	مَعَكَ	وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً	اِنْ وَّهَبَتْ	نَفْسَهَا
هغه اچې هجرت ئې کړې دې ا ستا سره ا او هغه ښځه مومنه ا چې اوبښی ا ځان خپل ا					
هغه چې تا سره ئې هجرت کړې دې ا اوهغه مومنه ښځه چې خپل ځان (بې عوضه) نبی ﷺ					
لِلنَّبِيِّ	اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ	اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا		خَالِصَةً لَّكَ	
نبی ته ا که اراده لری نبی ا چې په نکاح واخلی هغه ا دا رعایت خاص ستا دپاره دې ا					
ته اوښی ا هله که نبی ﷺ ئې په نکاح کښې راوستل اوغواړی ا داحکم خاص ستادپاره دې					
مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ط	قَدْ عَلِمْنَا	مَا	فَرَضْنَا		
نه دپاره د نورو مومنانو ا معلوم دی مونږ ته ا هغه حدونه ا چې مقرر کړی دی مونږه ا					
نورو مومنانو دپاره داسې (بې مهره د نکاح کولو) حکم نه دې امونږ ته هغه حکمونه معلوم دی ا کوم					

(۱) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب من طلق وهل یوجه الرجل امراته بالطلاق: ۵۲۵۶.
(۲) الطبری: ۲۰/۲۸۳.

Scanned with Ca

عَلَيْهِمْ	فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ	وَمَا	مَلَكَتْ
په هغوئ باندې|په باره دښځودهغوئ کښې|اوپه باره دهغه وينځوکښې اچې مالکان شوی دی دهغې			
چې مو په دوئ باندې د بيبيانو او وينځو په حق کښې مقرر کړی دی			
اَيْمَانُهُمْ	لِكَيْلَا	يَكُوْنَ	عَلَيْكَ
بنې لاسونه دهغوئ	(ته مو ددې حدونو نه جدا ساتلې نې) دپاره ددې	چې نه وی	په تاباندې
..... د دې دپاره چې په تا باندې څه تنګسيا رانشی			
حَرَجٌ ط	وَكَانَ اللّٰهُ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا ۝
څه تنګی	اودې الله	ببنونکې	مهربانه
او الله ﷻ ډير ببنونکې مهربان دې			

قوله تعالى:- يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ

پيغمبر ﷺ ته دډيرو ښځو اجازت:- الله ﷻ خپل نبی کريم ﷺ ته فرمائی تاچه کومو خپلو بيبيانوته مهر ورکړې دې هغه ټولې په تا حلالې دی. دحضور ﷺ د ټولوازواج مطهرات رضی الله عنهن مهردولس نيمې اوقيې وو د کوم چه ۵۰۰ درهم کيږی. اود ام حبيبه بنت ابی سفيان رضی الله عنها مهر حضرت نجاشی رحمه الله د خپل خان نه څلورسوه دينار ورکړې وو اودغه شان حضرت صفيه بنت حيي رضی الله عنها مهرصرف دهغې آزادی وه. دخيبر د قيديانونه هغه هم وه. بيا حضور ﷺ دا آزاده کړه اوهم دا آزادی مهر اوګرځوله او نکاح ئی اوکړه.حضرت جويريه بنت حارثه رضی الله عنها مصطلقه په څومره رقم باندې مکاتبه کړې وه هغه پوره رقم هغوی حضرت ثابت بن قيس بن شماس رضی الله عنه ته ادا کړو اوهغې سره ئی نکاح اوکړه. الله ﷻ دې په ټولوازواج مطهرات رضی الله عنهن باندې خپله رضامندې نازله کړی. دغه شان کومې وينځې چه د غنيمت په مال کښې د حضور ﷺ په قبضه کښې راغلې هغه هم په هغوی باندې حلال دی. د صفيه او جويريه رضی الله عنهن حضور ﷺ مالک شوې وو بياحضور ﷺ هغوی آزادې کړې او هغوی سره ئی نکاح اوکړه. ريحانه بنت شمعون نصريه اوماريه قبطيه رضی الله عنهن هم د حضور ﷺ په ملکيت کښې راغلې وې. دحضرت ماريه رضی الله عنها نه د حضور ﷺ يو فرزندهم شوې وو د کوم نوم چه حضرت ابراهيم ﷺ وو. د نکاح باره کښې نصرانيانو د افراط اويهوديانود تفريط نه کار اخستې وو په دې وجه د دې عدل او انصاف آسان اوصفاشريعت درميانه لار د حق ښکاره کړه. نصرانيان خود اووه پشتوپورې چه د کومې ښځې اوسړی نسب نه ملاويږی هغوی به دا نکاح جائزګنړله اويهوديانوبه د خور او رور لورسره هم نکاح کوله نواسلام د خورځې او اوريږې سره نکاح کول منع کړل اود تره لور ترور لور او ماما لور د خاله لور سره ئی نکاح مباح اوګرځوله. ددې آيت په خوبيانوباندې نظرواچوئی چه د عم خال، تره او ماما لفظ ئی خوواحدراوړې اودعمات اوخالات يعنی تروريانواوخاله ګانو لفظ ئی جمع راوړې. په کوم کښې چه يو قسم فضيلت دسړو په ښځو باندې ثابتيږی لکه ﴿يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰۗـــُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝﴾[1] اولکه ﴿وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۭ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝﴾[2] دلته هم ظلمات اونور يعنی تياری اورنړا ذکردې اود رنړا په تياره باندې فضيلت

---

[1] الطبری: ۲۸۳/۲۰.

[2] ۶:الانعام:۱.

دې پدې وجه ئې لفظ ظلمات جمع راوړو اونور ئې مفرد. د دې نورهم ډير مثالونه ورکولې کيدې شي. بيا فرمائي چه کومو خلقو تاسره هجرت کړې دې. حضرت ام هانی رضی الله عنها فرمائی ماپسې د رسول الله ﷺ غوښتنه راغله نو ما معذرت ښکاره کړو کوم چه حضور ﷺ اومنلواودا آيت نازل شو. زه په هجرت کونکې ښځوکښې نه ووم بلکه د مکې د فتح نه پس په ايمان راوړونکوکښې ووم. (۱)

د (هَاجَرْنَ مَعَكَ) مطلب: مفسرينوهم داوئيلی چه مرادهم دادې چه کومومدينې طرف ته حضور ﷺ سره هجرت کړې وی. د قتاده رحمه الله نه په يوروايت کښې د دې نه مراد اسلام راوړل هم بيان شوی دی. د ابن مسعود رضی الله عنه په قراءت کښې **(واللاتی هاجرن معك)** دې(۲) بيافرمائی چه هغه مؤمنه ښځه چه خپل نفس د نبی ﷺ دپاره هبه کړی اونبی ﷺ هم هغې سره نکاح کول غواړی نوبغيرمهر نه هغه په نکاح کښې راوستې شی.بياداحکم په دوو شرطونوسره دې.لکه آيت ﴿وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِيٓ إِنْ أَرَدْتُ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ اللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ ۖ هُوَ رَبُّكُمْ ۖ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾(۳) کښې يعنی حضرت نوح عليه السلام خپل قوم ته فرمائی که چرې زه تاسو ته نصيحت کول غواړم اوالله تعالی تاسو په دې نصيحت باندې مستفيدکول نه غواړی نو زما نصيحت تاسو ته هيڅ فائده نه شی درکولې. اولکه د موسی عليه السلام په دې فرمان کښې ﴿إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ﴾(۴) يعنی اې زما قومه که چرې تاسو په الله ﷻ باندې ايمان راوړو اومسلمانان شوی ئې نو تاسو له هم په الله ﷻ باندې بهروسه اويقين پکاردې. نولکه چه څنګه په دې دواړو آياتونوکښې دوه شرطونه دی دغه شان په دې آيت کښې هم دوه شرطونه دی. يوخودهغې خپل نفس هبه کول اوبل درسول الله ﷺ هغه په خپله نکاح کښې راوستلواراده کول. مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ له يوه ښځه راغله اووئی وئيل چه زه خپل ځان تاسوته هبه کول غواړم.بيا هغه د ډير وخته پورې ولاړه وه نوبوصحابی رضی الله عنه اودريدو وئی وئيل يارسول الله ﷺ که تاسو دې سره د نکاح اراده نه لرئی نوزما په نکاح کښې راکړئی. حضور ﷺ اوفرمائيل چه تاسره څه شته هم؟ چه دې ته ئې په مهرکښې ورکړې. جواب نی ورکړو چه د دې تهبندنه علاوه راسره هيڅ نشته. حضور ﷺ اوفرمائيل چه که دا ته دې ته ورکړې نو پخپله به بغيرد تهبندپاتې شې نور څه اولټوه. هغه وئيل ماسره نورهيڅ نشته. حضور ﷺ اوفرمائيل چه لټون خواوکړه که د اوسپنې چرته يوه ګوته هم وی. هغه ډير کوشش اوکړو خو هيڅ ئې هم بيا نه موندل. حضور ﷺ اوفرمائيل د قرآن پاک څه سورتونه هم تاته ياد دی؟ هغه وئيل اوفلانکی فلانکی سورتونه راته ياد دی. نو حضور ﷺ اوفرمائيل چه بس هم په دې سورتونوباندې دا ما ستا په نکاح کښې درکړه. داحديث په بخاری اومسلم کښې هم دی(۵) حضرت انس رضی الله عنه چه کله دا واقعه بيان کړه نود هغه لور هم اوريدله. وئيل په دې ښځه کښې ډيره کمه حيا وه. نوهغوی اوفرمائيل تانه ډيره بهتره وه چه دحضور ﷺ د خدمت رغبت ئې کولو اوحضور ﷺ ته ئې خپل نفس اوخان پيش کولو. (۶)

ځينې هبه کوؤنکی ښځې نبی کريم ﷺ رد کړی هم دی: مسنداحمدکښې دی يوه ښځه دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه اود خپلې لور نی ډيرزيات صفتونه اوتعريفونه اوکړل او وئی وئيل حضور ﷺ زما مطلب دادې چه تاسو هغې سره نکاح اوکړئی. حضور ﷺ قبوله کړه. هغې بياهم تعريفونه کول تردې چه

---

(۱) ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة الاحزاب:۳۲۱٤، حاکم:۲/٤۲۰، بيهقی:۷/٥٤.
(۲) الطبری:۲۰/۲۸٥.
(۳) ۱۱/هود:۳٤.
(٤) ۱۱/هود:۳٤.
(٥) صحيح بخاری کتاب النکاح باب تزويج المعسر:٥۰۸۷، صحيح مسلم:۱٤۲٥، احمد:٥/۳۳٦،ابوداؤد:۲۱۱۱، ترمذی ۱۱۱٤، ابن ماجه: ۱۸۸۹،ابن حبان: ٤۰۹۳.
(٦) صحيح بخاری کتاب النکاح باب عرض المراة نفسها علی الرجل الصالح:٥۱۲۰، احمد:۳/۲٦۸.

ونی وئیل حضور ﷺ نه هغه چرته بیماره شوې ده اونه ئې په سر درد راغلې دې. دې اوریدو سره حضور ﷺ اوفرمائیل چه بیاخوماته دهغې هیڅ حاجت نشته(۱) حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه خپل ځان هبه کونکې بی بی حضرت خوله بنت حکم رضی الله عنها ده. یوبل روایت کښې دی چه دا د قبیله بنوسلیم نه وه. یو بل روایت کښې دی چه دا ډیره نیك بخته بنځه وه. ممکن ده چه ام سلیم حضرت خوله رضی الله عنها وی. او دا هم کیدې شی چه دا چرته بله بنځه وی.

نبی کریم ﷺ دیارلس بنځو سره نکاح کړې وه:- ابن ابی حاتم کښې دی چه حضور ﷺ دیارلسو بنځوسره نکاح کړې په کومو کښې چه شپږ خو قریشیه وې. خدیجه عائشه حفصه ام حبیبه سوده او ام سلمه رضی الله عنهن اودرې د بنوعامر صعصعه د قبیلې نه وې اودوه بیبیانې د قبیله بنوهلال بن عامر نه وې. حضرت میمونه بن حارث هم دا وه چه خپل ځان نبی رسول الله ﷺ ته هبه کړې وو اوحضرت زینب دچا کنیت چه ام المساکین وو اویوه بنځه بنی بکربن کلاب داهم هغه وه چه دنیائی اختیارکړې وه اود بنوجون نه یوه بنځه کومې چه پناه غوښتې وه اویوه اسدیه د کوم نوم چه زینب بنت جحش رضی الله عنها ده. دوه وینځې وې. صفیه بنت حیی بن اخطب او جویریه بنت حارث بن عمرو بن مصطلق خزاعیه رضی الله عنهن. دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه خپل ځان هبه کونکې بنځه میمونه بنت حارث رضی الله عنها وه. خوپه دې کښې انقطاع ده اوداروایت مرسل دې.دامشهوره خبره ده چه زینب بنت جحش رضی الله عنها دچا کنیت چه ام المساکین وو دا زینب بنت خزیمه وه. د قبیله انصار نه وه اودحضور ﷺ په ژوند کښې وفات شوه. والله اعلم.

مقصددا چه کومو بنځو حضور ﷺ ته دخپل نفس اختیارورکړې وو هغه ډیرې دی. په صحیح بخاری کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دې ما به په دغه بنځو باندې غیرت کولو چه خپل نفس به نبی حضور ﷺ ته هبه کولو اوزه به ډیره زیاته حیرانه شوم چه بنځې خپل نفس هبه کوی. کله چه دا آیت نازل شو چه ﴿ تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ ۖ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَا آتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ﴾(۲) ته چه په دوی کښې کومو سره غواړې مه کوه اوکومو سره چه غواړې نوهغوی له خپل ځان سره ځای ورکړه اود کومونه چه تا جداوالي اوکړو که هغه هم ته راوړې نوپه تاځه نقصان نشته. نوما وئیل چه بس الله ﷻ په تاسوباندې بنه وسعت او ارتوالي کړې دې. (۳)

ایا دنبی کریم ﷺ په بیبیانو کښې هبه کوونکې هم وه - دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه حضور ﷺ سره یوه هم داسې بنځه نه وه چه هغې خپل نفس حضور ﷺ ته هبه کړې وی. حضرت یونس بن بکیر رحمه الله فرمائی چه دحضور ﷺ د پاره دامباح وه چه کومه بنځه خپل ځان پخپله حضور ﷺ ته حواله کړی هغه دې حضور ﷺ په خپل کورکښې اوساتی ولې حضور ﷺ داسې کړی نه دی ځکه چه داکار ئی هم د هغوی په مرضئی سره ساتلې وو. داخبره د بل چا د پاره جائزنه ده اوکه مهر اداکړی نوبیا جائزده. حضرت بروع ٔبنت واشق رضی الله عنها باره کښې چاچه خپل ځان حواله کړې ووکله چه دهغې خاوندمړ شو نورسول الله ﷺ هم دا فیصله کړې وه چه د هغې د خاندان د نورو بنځو په شان دې هغې ته هم مهرورکړې شی لکه مهر مثل مقرروی. دغه شان صرف په دخول باندې مهر واجب کیږی. اوحضور ﷺ د دې حکم نه مستثنی وو داسې بنځو له څه ورکول په حضور ﷺ باندې واجب نه وو. سره د دې که هغې ته شرف هم حاصل شوې وی ځکه چه هغوی ته بغیرد مهر نه اوبغیرد ولی نه اوبغیرد گواهانونه نکاح کولو اختیاروو لکه چه د حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها په قصه کښې دی.

---

(۱) احمد:۳/۱۵۵ مسندابی یعلی:٤۲۳٤، مجمع الزوائد:۲/۲۹٤.

(۲) ۳۳/الاحزاب: ۵۱.

(۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله ﴿ترجی من تشاء منهن...﴾:٤۷۸۸، صحیح مسلم:۱٤٦٤.

Scanned with Ca

بغیر د مهر او ولی نه ښځې سره نکاح کول جائز نه دی سوی د نبی نه:- حضرت قتاده رحمه الله فرمائی یوې ښځې له هم داجائزنه دی چه خپل ځان بغیرد ولی یا بغیرد مهر نه د چا په نکاح کښې ورکړی. دا صرف درسول الله ﷺ د پاره وو(۱)اوپه نورومؤمنانوباندې کوم مونږ مقرر کړی دی هغه مونږ ښه پیژنو یعنی هغوی دځلورونه زیاتې ښځې نه شی ساتلې.اوپه نورو مؤمنانو باندې کوم مونږ مقررکړی دی هغه مونږ ښه پیژنو یعنی هغوی د ځلورونه زیاتې ښځې نه شی ساتلې(۲)او ددې نه علاوه وینځې ساتلې شی اودهغې هیڅ شمیر مقررنه دی. دغه شان د ولی دمهر اود ګواهانو هم شرط دی.نودامت د پاره خوداحکم دی او په حضور ﷺ باندې دا پابندئی نشته دی د پاره چه په حضور ﷺ باندې هیڅ حرج نه وی. الله ﷻ ډیر ښښونکې اومهربان دی.

					تُرْجِيْ	مَنْ تَشَآءُ
					جدا کړه ته	هغه ښځې اچې غواړې ته
					په دې ښښیانو کښې ته چې کومه غواړې نو دځان نه ئې	
مِنْهُنَّ	وَتُؤْوِيْٓ اِلَيْكَ	مَنْ	تَشَآءُ ط	وَمَنِ		
دهغوئ نه	اواوساته دځان سره	هغه ښځې	چې ته غواړې ساتل دهغې	او هغه ښځې		
په ډډه ساته	اوچې ته غواړې نو ځان ته ئې رانزدې کړه	.....	اوکومه چې			
اِبْتَغَيْتَ	مِمَّنْ	عَزَلْتَ	فَلَا جُنَاحَ	عَلَيْكَ ط		
چې بیا ئې طلب کړې ته	دهغه ښځو نه	چې جدا کړی دی تا	پس نشته دې ګناه	په تاباندې		
دې په ډډه ساتلې وی	که هغه (بیانزدې کول) اوغواړې	نو په دې کښې هیڅ ګناه نشته				
ذٰلِكَ	اَدْنٰٓى	اَنْ	تَقَرَّ	اَعْيُنُهُنَّ	وَلَا يَحْزَنَّ	
دا کار	نزدې دې	دې ته چې	یخې به شی	سترګې دهغوئ	اونۀ به غمژنې کیږی	
په دې حکم سره زیات امید دې	چې د هغوئ سترګې یخې شی	او غمژنې نه شی				
وَيَرْضَيْنَ	بِمَآ	اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ط	وَاللّٰهُ يَعْلَمُ	مَا		
او راضی به وی هغوئ	په هغې	چې ورکوې ته هغوئ ټولو ته	او الله پوهیږی	په هغه څه		
اوته چې څه هغوئ ته ورکړې	هغه ټولې به په هغې راضی وی	.....	او الله ﷻ ته ستاسو د			
فِيْ قُلُوْبِكُمْ ط	وَكَانَ اللّٰهُ	عَلِيْمًا	حَلِيْمًا ۝			
چې په زړونو ستاسو کښې دی	او دې الله	په هر څه پوهه	صبرناک			
زړونو حال معلوم دې	.....	اوهغه په هر څه پوهیږی	ردبار دې			

قوله تعالی:- تُرْجِيْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ

پیغمبر ﷺ ته ښیاني ساتلوکښې اونه ساتلوکښې اختیار دی:- بخاری شریف کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه ماله په هغه ښځو شرم راتلو چه چپل ځان حضور ﷺ ته هبه کړی. ونیل به ئې چه بغیر دمهرنه خپل ځان حضور ﷺ ته حواله کولوباندې نه شرمیږئ؟ تردې چه دآیت نازل شو نوما

---

۱) الطبری: ۲۸۸/۲۰.
۲) الطبری: ۲۸۸/۲۰.

Scanned with Ca

اووئیل چه ستا رب ستا خواهش پوره کولو کښې جلتی کوی(۱) نومعلومه شوه چه دایت نه مراد هم دغه ښځې دی.دهغوی باره کښې دالله نبی ﷺ ته اختیاردې چه کومه غواړی قبوله کړی اوکومه چه نه غواړی نه قبلوی.بیاد دې نه پس داهم دحضور ﷺ په اختیارکښې شته چه کومه قبوله نه کړی اوهغه کله هم غواړی مهربانی پرې اوکړی. د عامر شعبی رحمه الله نه روایت دې کومه چه ئې روستوکړې وه هغه ام شریك وه.

د (تُرْجِیْ مَنْ تَشَآءُ) مطلب دې؟:-د دې جمله یومطلب دا هم بیان کړې شوې دې چه په خپلو بیبیانوکښې حضور ﷺ ته داهم اختیار وو چه که غواړی نوتقسیم دې کړی اوکه نه غواړی نو نه دې کوی. کومه چه غواړی مقدم دې کړی اوکومه چه غواړی مؤخر دې کړی دغه شان خاص خبرې اترې هم. خودا یاد ساتئی چه حضور ﷺ په خپل پوره عمر برابر په خپلو بیبیانوکښې عدل اوانصاف سره تقسیم کړې دې. د بعضې شافعی فقهاؤداقول دې چه په حضوراکرم ﷺ باندې تقسیم واجب وو.

صحیح بخاری شریف کښې دحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې چه د دې آیت د نازلیدلونه پس به دالله ﷻ نبی ﷺ زمونږ نه اجازت اخستلو. ماته خو چه به ئې کله هم فرمائیل نوما به وئیل چه که زما په وس کښې وې نو چرې به مې هم بل طرف ته نه پریخودو(۲) نوصحیح خبره چه کومه ډیره ښه ده اوبه دې اقوالوکښې مطابقت هم کوی هغه دادې چه آیت عام دې. خپل خان حواله کونکواود حضور ﷺ بیبیانو ټولوته شامل دې د هبه کونکوښځو باره کښې نکاح کول اونه کول اود نکاح والا په ښځوکښې تقسیم کول د حضور ﷺ په اختیارکښې وو(۳)

رسول کریم ﷺ به د اختیار باوجود نمبر ایخودو:-بیافرمائی چه دغه حکم بالکل مناسب دې اود رسول الله ﷺ د ازواج مطهراتو د پاره آسانئی والا دې. کله چه هغوی ته پته اولګیده چه هغه د نمبر مکلف نه دې خوبیاهم مساوات قائموی. نوهغوی به ډیرې خوشحاله وی اوممنون اوشکر ګذاره به وی اود هغوی د انصاف تعریف به کوی. الله ﷻ د زړونودحالت نه خبردې هغه پوهیږی چه د چاکوم طرف ته ډیر رغبت دې.مسنداحمدکښې دی چه حضوراکرم ﷺ به په خپله توګه په پوره عدل سره صحیح تقسیم کولونه پس هم د الله ﷻ په وراندې داسې عرض کولو اله العالمین ترکومې چه زما په وس کښې وه ما خپل انصاف اوکړو.اوس چه کوم زما په وس کښې نه وی په هغې باندې زما ملامتیامه کوه(۴) یعنی د زړه درجوع اختیارماته نشته. الله ﷻ دسینود خبروعالم دې خودحلم اوکرم والا دې سترګې پټوی او معافی کوی.

لَا يَحِلُّ
حلالې نۀ دی
ددې موجوده ښځو نه علاوه نورې

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله ﴿ترجی من تشاء منهن...﴾ :۴۷۸۸، صحیح مسلم:۱۴۶۴

۲) صحیح بخاری حواله سابق:۴۷۸۹، صحیح مسلم:۱۴۷۶، ابوداؤد:۲۱۳۶، احمد:۶/۷۶، ابن حبان:۴۲۰۶.

۳) الطبری:۲۰/۳۰۴.

۴) ابوداؤد کتاب النکاح باب فی التقسیم بین النساء:۲۱۳۴، وسنده صحیح، ترمذی:۱۱۴۰،نسائی:۳۳۶۵،ابن ماجه:۱۹۷۱، احمد:۶/۱۴۴، ابن ابی شیبه:۴/۳۸۶، دارمی:۲/۱۴۴، ابن حبان:۴۲۰۵، حاکم:۲/۱۸۷، بیهقی:۷/۹۹۸.

لَكَ النِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ وَلَآ أَنۡ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ أَزۡوَاجٖ
ستا دپاره انوري ښځي	روستو ددې نه	او نۀ دا	چې بدلوې به تۀ	په ځائې ددوئ	نوري ښځي	
ښځي (واده کول) ستادپاره حلالې نه دي	اوداهم جائز نه دي چې ته ددوئ په بدل کښې نوري ښځي واخلې	
وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ
اګر که خوښ دي ستا	ښائيست دهغوئ	مګر حلالې دي	هغه وينځې	چې مالك شي دهغې	
اګر که دهغوئ ښائست دې زړه ته پريوځي	سوا ددې نه چې ستا وينځه وي	
يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا ٥٢
ښئ لاس ستا	او دې الله	په هر څيز باندې	نګران (ساتونکې)	
.....او الله ﷻ د هر څيز نګهبان دې	

قوله تعالى:- لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ

د ازواج مطهرات رضی الله عنهن د پاره د الله ﷻ انعام او ددې ایت مبارک اول مطلب:- په اولنو آياتونو کښې تيرشوې دي چه رسول الله ﷺ خپل بيبيانوته اختيارورکړوکه هغوی غواړی نود حضورﷺ په نکاح کښې دي وی اوکه غواړی نو دحضورﷺ نه دې جداشی. خوامهات المؤمنين دحضورﷺ لمن پريخودل خوښ نه کړه. په دې باندې د الله ﷻ د طرف نه په دنياوی بدله کښې يودامالاوشوچه حضورﷺ ته په دې آيت کښې حکم اوشوچه اوس د دوی نه علاوه ته بلې ښځې سره نکاح نه شې کولې نه ته په دوی کښې د يوې پريخودوسره دهغې په بدله کښې بله راوستې شی که هغه څومره ښائسته ولې نه وی؟ اود وينځو خبره بله ده. دې نه پس رب العالمين دحضورﷺ نه دا تنګی اوچته کړه اود نکاح اجازت ئی ورکړو خو پخپله حضوراکرمﷺ بيابله نکاح اونه کړه.ددې حرج داوچتولو اوبيادعمل نه کولو يوډيرلوئ مصلحت دا وو چه د حضورﷺ دااحسان په بيبيانوباندې وی. د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه دحضورﷺ د وفات نه وړاندې الله ﷻ دهغوی د پاره نورې ښځې هم حلالې کړې وې.(۱) دحضرت ام سلمه رضی الله عنها نه داهم روايت دې چه د حلالولوايت ﴿ تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمٗا ٥١ ﴾(۲) دې يعنی چه کوم د دې آيت نه وړاندې تيرشوې دي.په بيان کښې هغه اول او په نازليدوکښې روستودي،سورت بقره کښې همدغه شان دوفات دعدت روستونی آياتونه منسوخ دی اوهم داړومبې آيت دهغې ناسخ دي. والله اعلم.

دويم مطلب:- ددې آيت يوه بله معنی هم د ډيروحضراتونه روايت ده هغوی وائی چه دې نه مطلب دا دي چه د کومو ښځو ذکر د دې نه وړاندې دي د هغې نه سوا حلال دی. د ابی بن کعب ﷺ نه سوال اوشو چه آيا د حضورﷺ کومې بيبيانې وې که هغه د حضورﷺ په موجودګئی وفات شوې وې نو حضورﷺ د نورو ښځو سره نکاح نه شوه کولې؟ هغه اوفرمائيل ولې؟ نوسوال کونکی **﴿لايحل﴾** والاآيت اولوستلو. دې اوريدوسره ابی بن کعبﷺ اوفرمائيل ددې مطلب خودادی چه د ښځوکوم قسمونه دې نه وړاندې بيان شوی دی يعنی نکاح شوې بيبيانې وينځې د تره لونړه تروريانو ماماګانو خاله ګانو لونړه هبه

---

(۱) ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة الاحزاب:۳۲۱۶وسنده صحيح، احمد:۶/۴۱، ابن حبان:۶۳۶۶.(ترمذی نسائی وغيره)

(۲) ۳۳/الاحزاب:۵۱.

کیدونکی بښځې اوددې نه سوا چه بل قسم وی په کوموکښې چه داصفتونه نه وی هغه په حضور ﷺ باندې حلالې نه دی.(ابن جریر)ابن عباس ﷺ فرمائی چه ددې مهاجرو مؤمنو بښځوسره نکاح کولونه حضور ﷺ منع کړې شو.غیرمسلم بښځوسره ئی نکاح حرامه کړې ده.قرآن کریم کښې دی﴿وَمَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾(۱)یعنی دایمان نه پس دکفرکونکی اعمال غرق دی. نوالله تعالی آیت ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا﴾(۲) کښې د بښځود کوم یو قسم ذکر دې هغه خو حلال دی دې نه علاوه نورې حرام دی.(۳)

دریم مطلب:-مجاهد رحمه الله فرمائی چه دې نه سواهرقسم بښځې که هغه مسلمانانې وی یهودنې اوکه نصرانیانې وی ټولې حرام دی.

څلورم مطلب:-ابوصالح رحمه الله فرمائی چه دباندې چی او ناپیژندګلو بښځو سره دنکاح نه ئی منع کړې وو خوچه کومې بښځې حلال وې که په هغوی کښې په سوونو واخلی نوهم حلال دی. غرض دا چه آیت عام دې هغه بښځې کومې چه دحضور ﷺ په کورکښې وې اوهغه بښځې دکوموقسمونه چه بیان کړې شو ټولو ته شامل دې.اودکوموخلقو نه چه ددې په خلاف روایتونه دی دهغوی نه د دې مطابق هم روایت دې نو هیڅ څه منفی نشته.او پدې باندې یوه خبره باقی پاتې کیږی چه حضور ﷺ حضرت حفصه رضی الله عنها ته طلاق ورکړې وو بیائی هغې ته رجوع کړې وه اود حضرت سوده رضی الله عنها نه ئی هم د جدائې اراده کړې وه په کومه چه هغې د خپل نمبر ورځ حضرت عائشه رضی الله عنها ته ورکړه. د دې جواب امام ابن جریر رحمه الله دا ورکړې دې چه دا واقعه د دې آیت د نازلیدلونه د وړاندې ده. خبره هم دا ده خو مونږ وایو د دې جواب هم څه ضرورت نشته ځکه چه په آیت کښې د هغوی نه سوا دنوروبښځوسره دنکاح کولو اودا ویستوسره د تورو راوستو نه منع کړې شوې وو. د طلاق نه نه وو منع کړې شوی. والله اعلم. دحضرت سوده رضی الله عنها والا په واقعه کښې آیت ﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا﴾] ۴/النساء:۱۲۸. نازل شوې دې

د حفصه رضی الله عنها د طلاق واقعه:- اودحضرت حفصه رضی الله عنها والا واقعه په ابوداؤد وغیره کښې نقل ده.(۴) ابویعلی کښې دی عمر ﷺ یوه ورځ حضرت حفصه رضی الله عنها له راغلووئی کتل چه هغې ژړل. تپوس ئی اوکړو چه کیدې شی تاته حضور ﷺ طلاق درکړې وی واوره که رجوع اوشوه اوبیادامو قعه راغله نو په الله ﷻ قسم چه ترمرګه پورې به تاسره خبرې اونه کړم.(۵) په آیت کښې الله ﷻ حضور ﷺ د زیات والی نه اودیوې په ویستلو سره بله راوستلونه منع کړې ووخوویښځې حلال کړې وې.ابوهریره ﷺ فرمائی په جاهلیت کښې یوخراب رواج داهم وو په خپل مینځ کښې به ئی د بښځوبدلون کولو. ده به خپله هغه ته ورکوله اوهغه به ده ته ورکوله. اسلام د دې کنده طریقې نه مسلمانان منع کړل. د یوځل واقعې ذکر دې چه عیینه بن حصن فزاری ﷺ حضور ﷺ له راغلو اود خپل جاهلیت د رواج په شان بغیرد اجازت نه راغلو. هغه وخت حضور ﷺ سره حضرت عائشه رضی الله عنها ناسته وه. حضور ﷺ اوفرمائیل ته ولې بغیراجازت

---

(۱) ۵/المائدة:۵.

(۲) ۳۳/الاحزاب:۵۰.

(۳) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الاحزاب ۳۲۱۸، وسنده حسن.

(۴) ابوداؤد کتاب الطلاق باب المرجعة:۲۲۹۳وسنده صحیح. نسائی:۳۵۹۰، ابن ماجه:۲۰۱۶، ابن حبان:۴۲۷۵،

(۵) مسندابی یعلی:۱۷۲، ابن حبان:۴۲۷۶، دوعه نسخه:۴۲۶۳مجمع الزوائد:۹/۲۴۴.

Scanned with Ca

دننه راغلي هغه وئيل واه ماخوترننه پوري د قبيله مضر په خاندان کښې د يوسړی نه هم اجازت نه دی غوښتې بيائی وئيل دا تاسره کومه يوه ښځه ناسته ده؟ حضورﷺ اوفرمائيل ام المؤمنين حضرت عائشه رضی اللہ عنہا وه. هغه وئيل حضور ﷺ دا پريږده اوزه د دی په بدله کښې خپله ښځه تاسو ته درکوم چه په ښائست کښې بې مثاله ده. حضورﷺ اوفرمائيل چه الله ﷻ خوداسې حرام کړی دی. کله چه هغه لاړو نو موربی بی اوفرمائيل يارسول الله ﷺ داځوک وو؟ حضورﷺ اوفرمائيل يوبې وقوف سردار وو. تاد هغه خبرې واوريدې په دې سره هم هغه د قوم سردار دې[1] ددې روايت يو راوی اسحاق بن عبدالله بالکل د پريوتې درجې والا دې.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا	لَا تَدْخُلُوْا	بُيُوْتَ النَّبِيِّ	اِلَّآ	اَنْ يُّؤْذَنَ	
اے هغه کسانو چی ايمان مو راوړی دی	مهٔ ننوځئ	کورونو دنبی ته	مګر هله	چی اجازت اوکړی شی	
ائی مومنانو دپيغمبر کورونو ته مه داخليږئ	خوهله ورداخليږئ	چې دخوراک دپاره درته	اجازت اوکړی شی		
لَكُمْ	اِلٰى طَعَامٍ	غَيْرَ نٰظِرِيْنَ	اِنٰىهُ ۙ	وَلٰكِنْ	
تاسو ته	خوړلو دطعام ته	په داحال چی نهٔ يئ	انتظار کونکی	لوخی دپخکړئ دهغه ته	وليکن
.....	په دې طريقه	چې دهغې طعام	دپخلی	انتظار مه کوئی	.....خو کله چې
اِذَا	دُعِيْتُمْ	فَادْخُلُوْا	فَاِذَا	طَعِمْتُمْ	فَانْتَشِرُوْا
کله چی	دعوت درکړی شی تاسو ته	نو ننوځئ	پس هرکله چی	اخوراک اوکړئ	تاسوانو خواره شئ
دعوت درکړې شی	نو بيا ورځئ	.....بيا چې ډوډئ	اوخورئ	.....نو خوارهٔ واره شئ	
وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ	لِحَدِيْثٍ ؕ	اِنَّ	ذٰلِكُمْ كَانَ	يُؤْذِي النَّبِيَّ	
او مهٔ کينئ	مينه کونکی	دپاره دخبرو	بيشکه	دا کار ستاسو	تکليف ورکوی نبی ته
او خبرو ته ښخ ناست مه	پاتې کيږئی	بيشکه ستاسو	په دې خبرو	پيغمبر ته تکليف رسی	
فَيَسْتَحْيٖ	مِنْكُمْ ۚ	وَاللّٰهُ	لَا يَسْتَحْيٖ	مِنَ الْحَقِّ ؕ	وَاِذَا
ليکن هغه حيا کوی	ستاسو نه	او الله	نهٔ کوی حيا	دبيا نولو دحق نه	او کله چی
خو هغه ستاسو خاطر کوی	.....او الله ﷻ	په صفا وينا	کښې دچا	خيال نه ساتی	اوهرکله چې
سَاَلْتُمُوْهُنَّ	مَتَاعًا	فَسْـَٔلُوْهُنَّ	مِنْ وَّرَآءِ	حِجَابٍ ؕ	ذٰلِكُمْ
غواړئ تاسو دهغوئ نه	څه څيز	نو غواړئ دهغوئ نه	روستو	دپردې نه	دا کار ستاسو
د پيغمبر د بيبيانو نه څه څيز	غواړئ	نود پردې شاته ئې	غواړئی	.....	داکار ستاسو
اَطْهَرُ	لِقُلُوْبِكُمْ	وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ	وَمَا كَانَ	لَكُمْ	
ډير پاک دی	دپاره دزړونو ستاسو	او دزړونو دهغوئ	اونهٔ دی جائز	ستاسو دپاره	
اود هغوئ دزړونو دپاره	ډيره پاکه طريقه ده	.....او تاسو دپاره	دا جائز نه دی	چې	

[1] البزار: ۲۲۵۱، دارقطنی: ۲۱۸/۳، مجمع الزوائد: ۹۵/۷،

اَنْ تُؤْذُوْا	رَسُوْلَ اللّٰهِ	وَلَآ اَنْ	تَنْكِحُوْٓا	اَزْوَاجَهٗ
چې تکليف اورسوئ	رسول دالله ته	اونۀ دا چې	تاسو په نکاح واخلئ	بيبيانې دهغه
دالله ﷺ رسول ته تکليف ورکړئ	يا دا چې د هغه نه پس دهغه بيبيانو کښې چا سره چرې			
مِنْۢ بَعْدِهٖٓ	اَبَدًا ؕ	اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ	عِنْدَ اللّٰهِ	عَظِيْمًا ۝
روستو دهغه نه	هيڅکله	بيشکه دا کار (ستاسو دپاره)	دې	په نز دالله
نکاح اوکړئ	.....	داخبره دالله ﷺ په نيز ډيره لويه ګناه ده		
اِنْ تُبْدُوْا	شَيْـًٔا	اَوْ تُخْفُوْهُ	فَاِنَّ اللّٰهَ	كَانَ
که ښکاره کوئ تاسو	څه څيز	يا پټوئ هغه	پس بيشکه الله	دې
که تاسو يوه خبره ښکاره کوئ اوکه پټوئ ئې	.....	نو الله ﷻ په هرڅيز ډير ښه عالم دې		
عَلِيْمًا ۝				
ښه عالم				

قوله تعالى:- يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ

د پردې د حکم نازليدل اود پيغمبر ﷺ دکور احترام:- په دې آيت کښې د پردې حکم دې اود شرعی آدابو او احکامو بيان دې. دحضرت عمر ﷺ د قول مطابق چه کوم آياتونه نازل شوی دی په هغې کښې يودا هم دې. بخاری اومسلم شريف کښې دهغوی نه روايت دې دري خبرې ما اوکړې د کومو مطابق چه الله رب العزت احکام نازل کړل. ماوئيل يارسول الله ﷺ که تاسو مقام ابراهيم قبله جوړه کړئی نو به بهتروی. نو الله تعالى هم دغه حکم اوفرمانيلو ﴿وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ وَعَهِدْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ اَنْ طَهِّرَا بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ﴾[1] ماوئيل يارسول الله ﷺ ماته خودانبه نه ښکاری چه هريوکس دې کورته نبغ راننوخی تاسو خپلو بيبيانوته د پردې حکم ورکړئی نوښه به وی. نود الله ﷻ د طرف نه د پردې حکم نازل شو. کله چه دحضوراکرم ﷺ ازواج مطهراتو دغيرت د وجه نه څه وئيل اوريدل نوماونيل په څه غرورکښې مه پريوځئی که حضوراکرم ﷺ تاسو پريږدی نو الله ﷻ به حضور ﷺ ته تاسو نه بهتر بيبيانې ورکړی. نود قرآن پاک هم دا آيت نازل شو[2] په صحيح مسلم کښې يوځلورم موافقت هم موجوددې او هغه دبدر د قيديانوفيصله ده[3] يوبل روايت کښې دی ۵هجری د ذی قعده مياشت کښې کله چه رسول الله ﷺ حضرت زينب بنت جحش رضی الله عنها سره نکاح اوکړه کومه نکاح چه الله ﷻ پخپله کړې وه هم هغه سحر باندې د پردې آيت نازل شو. بعضې حضرات وائی چه دا واقعه د ۳هجری ده. والله اعلم.

قوله تعالى:- وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ ؕ

خوراک نه پس خبرو دپاره نه دی ايساريدل پکار:- صحيح بخاری کښې دی حضور ﷺ چه کله حضرت زينب بنت جحش رضی الله عنها سره نکاح اوکړه نوخلقو له ئی دعوت اوکړو نود خوراک څښاک نه پس په خبرو اتروکښې اخته شو. حضور ﷺ د پاسيدو تياری هم اوکړه خوهغوی پانه سيدل دې کتلوسره حضور ﷺ

---

[1] /البقرة:۱۲۵.

[2] صحيح بخاری كتاب التفسير سورة البقرة باب ﴿ واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى﴾:٤٤٨٣، ترمذی:۲۹۵۹، احمد:۲٤/۱، ابن حبان: ٦٨٩٢.

[3] صحيح مسلم كتاب فضائل الصحابة باب من فضائل عمر ﷺ:۲۳۹۹،

اودریدو.حضور ﷺ سره څه خلق خوروان شوخوبیاهم دري کسان هم هلته ناست وو خبري کولې. حضور ﷺ چه کله اوکتل واپس شو نوهغوی هم هغه شان په خبروکښې اخته وو.حضور ﷺ بیالاړو کله چه داخلق لاړل نوحضرت انس ﷺ حضوراکرم ﷺ ته خبرورکړو.نوبیاحضور ﷺ کورته تشریف راوړو. حضرت انس ﷺ فرمائی چه ما هم تلل غوښتل نو حضور ﷺ په خپل مینځ کښې اوزما په مینځ کښې پرده اوکړه اودا آیت نازل شو(۱) یوبل روایت کښې دی چه حضورنبی کریم ﷺ په دې موقعه باندې غوښه اوروټئی ورکړې وه اوحضرت انس ﷺ ئې لیګلې وو چه خلق راوغواړه. خلق به راتلل خوړله به ئې او واپس به تلل. کله چه یو هم داسې پاتې نه شوکوم چه حضرت انس ﷺ راغوښتې وو نوحضور ﷺ ته ئې خبر ورکړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه اوس دسترخوان اوړدکړه. ټول خلق لاړل مګردري کسان ناست په خبرو کښې لګیاوو. حضوراکرم ﷺ د دې خائ نه لاړو اوحضرت عائشه ﷺ کره لاړو اووئی فرمائیل السلام علیکم یااهل بیت ورحمة الله وبرکاته. مور بی بی جواب ورکړو وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته اوفرمائی حضور ﷺ د بی بی نه خوشحاله خو ئې؟ نبئ کریم ﷺ اوفرمائیل الله ﷻ دې تاله برکت درکړی. دغه شان حضور ﷺ ټولو بیبیانوکره لاړو اوپه هریوخائ کښې هم داخبرې اوکړې. اوس چه کله واپس راغلو وئی کتل نوهغه صاحبان لاتراوسه پورې ناست خبرو کښې لګیا دی. په حضوراکرم ﷺ کښې شرم اوحیا اولحاظ ډیرزیات وو په دې وجه حضور ﷺ هیڅ هم اونه فرمائیلې شواوبیا د حضرت عائشه ﷺ کمرې ته لاړو اوس پته نه لګی چه ماخبر ورکړو که هغه دریواړه پخپله لاړل نوحضور ﷺ راغلو او په چوکاټ ئې قدم کیخودو سره پرده اوکړه اود پردې آیت نازل شو(۲)په یوروایت کښې د دریوکسانوپه خائ د دوو سړو ذکر دې(۳)ابن ابی حاتم کښې دی د حضور ﷺ په یوه نوې نکاح باندې حضرت ام سلیم ﷺ شیره جوړه کړه او په یوخانك کښې کیخوده او حضرت انس ﷺ ته ئې اوفرمائیل چه داد الله ﷻ رسول ﷺ له یوسه اوورته اووایه چه دا لړه شان تحفه زمونږ د طرف نه قبوله کړئی اوزما سلام هم ورته وایه. هغه وخت خلق ووم هم په سختئی کښې. زه لاړم حضور ﷺ ته مې د موربی بی سلام او پیغام اورسولو. نبی کریم ﷺ چه دا اوکتل نووئی فرمائیل ښه ده دا کیږده زه لاړم اود کور په یوګوټ کښې مې کیخوده. بیائی اوفرمائیل لاړشه اوفلانکې فلانکې راوغواړه. د ډیرخلقو نومونه ئې واخستل او وئی فرمائیل چه دوی نه علاوه کوم مسلمان هم ملاوشی هغه راوغواړه. ماهم داسې اوکړه چه څوك هم ملاو شو هغه مې رسول الله ﷺ کره د خوراك د پاره راغوښتل. چه واپس شوم نو اومې کتل ټول کور حجره اوبیټك د خلقو نه ډك وو. تقریبًا دري سوه کسان وو. اوس ماته حضور ﷺ اوفرمائیل لاړشه هغه پیاله راوړه ماچه راوړه نوحضور ﷺ پرې خپل لاس مبارك کیخودو اودعائی اوکړه اوچه الله ﷻ څه غوښتل دحضور ﷺ د ژبې مبارکې نه ئې اداکړل. بیااوفرمائیل لس لس کسان کینوئی بسم الله وئیلو سره دخپلې خپلې مخې نه خوراك شروع کړئی. دغه شان خوراك شروع شو اوټولو اوخوړله. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل پیاله راوچته کړه. حضرت انس ﷺ فرمائی چه ما پیاله راوچته کړه نو زه دانه شم وئیلې چه اول په دې کښې زیاته وه که اوس؟ یوځو کسان دحضور ﷺ په کورکښې ناست وو خبرې کولې اوام المؤمنین دیوال طرف ته مخ کړې ناسته وه. د هغوی د دومره وخت پورې نه اخواکیدل په حضور ﷺ باندې ګران تیریدل خود شرم اولحاظ د وجه نه ئې څه نه وئیل که هغوی ته د دې خبرې علم شوی وو نوهغوی به وتلې وو خو په بې خیالئی کښې ناست وو. حضور ﷺ د کور نه اووتلو اوبیبیانوکوټوته لاړو چه کله واپس شو وئی کتل هغوی هم هغه شان ناست وو. نواوس خودوی ته هم پته اولګیده پښیمانه

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله ﴿لاتدخلوا بیوت النبی الا....﴾:۴۷۹۱،صحیح مسلم:۱۴۲۸.
(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة الاحزاب باب قوله ﴿لاتدخلوابیوت النبیالا....﴾:۴۷۹۳.
(۳) صحیح بخاری حواله سابق:۴۷۹۴.

Scanned with Ca

شو او زر اووتل. حضور ﷺ دننه لاړواوپرده ئی زورندکړه. زه هم په حجره کښې ووم چه دا ایت نازل شو حضور ﷺ د دې تلاوت کولوسره بهر راغلو. د ټولونه اول دا آیت ښځو واوریدو اود ټولونه اول د دې اوریدونکي هم زه ووم(۱)اول دحضرت زینب رضی اللہ عنہا پیغام اورلوروایت په آیت ﴿ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴾(۲)په تفسیر کښې تیرشوي دي. د دې په آخره کښې په بعضې روایاتوکښې داهم دی چه بیاخلقوته نصیحت اوکړې شو. اودهاشم په دې حدیث کښې د دې آیت بیان هم دي. (۳)

ابن جریرکښې دی د شپې وخت کښې به ازواج مطهرات د قضائی حاجت د پاره صحرا ته تلې. د حضرت عمر رضی اللہ عنہ داخوښ نه ووفرمائیل به ئی چه دوی داسې مه پریږدئی. حضور ﷺ په دې باندې توجه نه ورکوله.یوځل حضرت سوده بنت زمعه رضی اللہ عنہا اووتله. دفاروق اعظم رضی اللہ عنہ داخوښه وه چه په څه طریقه باندې دا ازواج مطهرات دا وتل بندکړی. ددې دپاره هغوی دقداوقامت نه اوپیژندله اوپه اوچت آواز ئی اووئیل مونږ اې سوده ته اوپیژندلې. دې نه پس دپردې آیاتونه نازل شو. پدې روایت کښې هم داسې دی خومشهوره دا ده چه داوقعه د پردې د نازلیدلونه وړاندې ده.

مسند احمدکښې د حضرت عائشه رضی اللہ عنہا نه روایت دې چه د پردې د حکم نه پس حضرت سوده رضی اللہ عنہا وتلې وه الخ. په دې کښې داهم دی چه هم هغه وخت راواپس شوه. نبی کریم ﷺ د مابنام خوراک کولو په لاس مبارک کښې یو هډوکي وو. راغله واقعه ئی بیان کړه هم هغه وخت وحی نازل شوه چه کله ختمه شوه نوهم هغه وخت پورې دا هډوکي په لاس مبارک کښې وو لااوس ئی پریخې هم نه وو چه حضور ﷺ اوفرمائیل الله ﷻ تاسو له ستاسود ضرورت د پاره د بهروتلواجازت درکوی(۴)په آیت کښې الله ﷻ مسلمانان د دې عادت نه منع کوی کوم چه په جاهلیت کښې اود اسلام په شروع کښې په خلقوکښې وو چه بې اجازته به د خلقو کورونوته تلل. نوالله تعالی د دې امت اکرام کولوسره دوی ته دا آدب ښائی. په یوحدیث کښې هم دا مضمون دې چه خبردار ښځوله مه ځئی(۵)بیاالله تعالی هغوی مستثنی کړې چاته چه اجازت ورکړې شی. ونی فرمائیل تاسو ته چه اجازت درکړې شی د خوراک طرف ته نو تاسو د دې د تیاری په انتظارکښې مه اوسیږئی. مجاهد اوقتاده رحمہما اللہ فرمانی چه د خوراک د پخیدو اوتیاریدو په وخت کښې وررسه. (۶) کله چه پوهه شی خوراک تیارشو نو ورننوځی دا خصلت د الله ﷻ خوښ نه دي. دا دلیل دې د طفیلی جوړیدو په حرمت. امام خطیب بغدادی رحمہ اللہ ددې په مذمت کښې پوره یو کتاب لیکلې دي. بیافرمانی چه کله راوغوښتې شې نو څه او کله چه اوخورې نو اوځه. صحیح مسلم شریف کښې دی چه په تاسو کښې کله تاسو ستاسو رور راوغواړی نود هغه دعوت قبلول پکاردی که د نکاح وی که د بل څه(۷)یوبل حدیث کښې دی که ماته د یوې نوکې دعوت هم راکړې شو نوزه به ئی قبول کړم. د دعوت په دستورکښې داهم بیان اوفرمائیل کله چه اوخورې نوکوربه کره پرلت مه غزوه او

---

(۱) صحیح بخاری کتاب النکاح باب الهدیة للعروس:۵۱۶۳،صحیح مسلم:۱۴۲۸،ترمذی:۳۲۱۸.

(۲) ۳۳/الاحزاب:۳۷. الخ

(۳) صحیح مسلم کتاب النکاح باب زواج زینب بنت جحش رضی الله عنها ونزول الحجاب...:۱۴۲۸.

(۴) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله تعالی ﴿لاتدخلوابیوت النبی﴾:۴۷۹۵، صحیح مسلم:۲۱۷۰، احمد:۵۶/۶، ابویعلی:۴۴۳۳.

(۵) صحیح بخاری کتاب النکاح باب لایخلون رجل بامراة الاذو محرم.....:۵۲۳۲، صحیح مسلم:۲۱۷۲، ترمذی:۱۱۷۱، احمد:۱۴۹/۴، ابن حبان:۵۵۸۸.

(۶) الطبری:۳۰۶/۲۰.

(۷) صحیح مسلم کتاب النکاح باب الامر باجابة الداعی الی دعوة: ۱۴۲۹.

Scanned with Ca

مه کینه بلکه د هغه ځای نه خه[1] په خبروکښې مه مشغول کیږئ لکه څنګه چه دې دریو کسانو کړې وو اوحضور ﷺ ته تکلیف ووخود شرم اولحاظ د وجه نه ئې څه نه شووئیلې. دغه شان دا مطلب هم دې چه ستاسو د بغیراجازت نه د حضور ﷺ کورته تلل هم په هغوی باندې سخت پریوځی خوهغوی د شرم اوحیا د وجه تاسو ته څه نه شی وئیلې. الله ﷻ تاسو ته صفا صفا بیان فرمائی چه اوس داسې مه کوئ. هغه حق ته د حکم ورکولونه حیا نه کوی.تاسوله چه څنګه بغیرد اجازت نه دحضور ﷺ دبیبیانو کره تلل منع دی دغه شان د هغوی طرف ته سترګې اوچتول اوکتل هم حرام دی. که تاسو د هغوی نه څه ضروری څیز اخستل یا ورکول وی نو د پردې نه اخوا دې وی. ابن ابی حاتم کښې دی نبی کریم ﷺ یو خل شیره خوړله حضرت عمر ﷺ ئې هم راوغوښتلو هغوی هم ناست وو خوړله ئې.عائشه صدیقه ﷺ د اول نه په خوراک کښې شریکه وه. حضرت عمر ﷺ د ازواج مطهرات د پردې په خیال کښې ووپه خوراک کښې ئې ګوتوسره ګوتې اولګیدې نو ناڅاپه ئې د خُلې نه اووتل چه افسوس زما منلې شوې وې اوپرده کولې شوه نو د چا نظر به هم نه پریوتلو. (۲) هم هغه وخت د پردې حکم نازل شو. بیا د پردې تعریف بیانولې شی چه د ښځو اوسړو د زړونود پاکوالی ذریعه ده. که یوسړی د حضور ﷺ د یوې بی بی سره د هغوی نه پس د نکاح کولو اراده کړې وه نو په دې آیت کښې دا حرام اوګرځولې شو څکه چه د حضور ﷺ بیبیانې په ژوند کښې او په جنت کښې دهغوی بیبیانې دی اود ټولومسلمانانوهغه میندې دی په دې وجه دمسلمانانو د هغوی سره نکاح کول حرام دی.داحکم د هغه بیبیانود پاره دې چه د حضور ﷺ د وفات په وخت کښې د هغوی په کور کښې وې. د ټولو په نیز اجماعا دی خو چه کومې بی بی ته حضوراکرم ﷺ په ژوند کښې طلاق ورکړې اود هغې نه جدا شوې دی نو هغې سره څوک نکاح کولې شی که نه؟ په دې کښې دوه مذهبه دی یودا چه دخول نه وی شوی او طلاق ئې ورکړې وی هغې سره بل څوک نکاح کولې شی. قیله بنت اشعث بن قیس د حضوراکرم ﷺ په ملکیت کښې راغلې وه د هغوی د وفات نه پس هغې د عکرمه ﷺبن ابوجهل سره نکاح اوکړه.

په حضرت ابوبکر ﷺ باندې دا ښه نه لګیدل نو حضرت عمر ﷺ پوهه کړو چه اې خلیفه رسول الله ﷺ دا دحضور ﷺ بی بی نه وه نه دې ته حضوراکرم ﷺ اختیار ورکړې نه ئې دې ته د پردې حکم ورکړې اود دې د قوم ردت د دې د ردت په وجه الله ﷻ دا د رسول الله ﷺ نه بری کړه دې اوریدو سره د حضرت صدیق اکبر ﷺ تسلی اوشوه. نوددې دواړو خبرو بدی بیانولوسره فرمائی رسول الله ﷺ ته تکلیف ورکول اود هغه بیبیانوسره د هغوی د وفات نه پس نکاح کول دا دواړه ګناهونه د الله ﷻ په نیز ډیرې لوئې دی. ستاسو پتې اوښکاره خبرې ټولې الله ﷻ ته ښکاره دی. د هغه نه وړوکی نه وړوکی څیز هم پټ نه دی. د سترګوخیانت اود زړه پتې شوې خبرې اود زړه ارادې هغه پیژنی.

لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ	فِيٓ اٰبَآئِهِنَّ	وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ
نشته ګناه په هغوئ باندې په کورته راتلو دپلرونو دهغوئ کښې اونۀ د خامنو دهغوئ کښې		
.....دپیغمبر بیبیانو دپاره خپلو پلارانوته		.....او خامنو ته
وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ	وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ	وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوَاتِهِنَّ
اونۀ د رونړو دهغوئ کښې اونۀ د خامنو د رونړودهغوئ کښې اونۀ د خامنو دخویندودهغوئ کښې		
او رونړو ته.....او وریرونو (د رور خامنو)ته		.....او خوریونو(د خورخامنو) ته

[1] صحیح بخاری کتاب النکاح باب من اجاب الی کراع:۵۱۸۷، احمد:۲/۴۲۴، ابن حبان:۵۲۹۱.
[2] السنن الکبری:۱۱۴۱۹.

وَلَا نِسَآئِهِنَّ	وَلَا مَا	مَلَكَتْ
اونۀ د ښځو دمیل ملاپ دهغوئ کښې | اونۀ د هغه وینځو کښې | چې مالکان شوی وی |		
اوخپلو (مسلمانانو) زنانۀ ته .....او خپلو وینځو ته (په مخامخ کیدو باندې) هیڅ ګناه نشته		

اَيْمَانُهُنَّ ۚ	وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	شَهِيْدًا ۝
ښې لاسونه دهغوئ | اواویریږئ دالله نه | بیشکه الله | دې په هر څیز باندې | حاضر (نظرلرونکې) |				
اوتاسو دالله ﷻ نه ویریږئ | .....الله ﷻ په هره څیز باندې ګواه دې				

اِنَّ اللّٰهَ	وَمَلٰٓئِكَتَهٗ	يُصَلُّوْنَ	عَلَى النَّبِيِّ ؕ	يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
بیشکه چې الله | او فرښتې دهغه | درود (یعنی رحمت) لیږی | په نبی ﷺ باندې | اے هغه کسانو |				
بیشکه الله اوددۀ فرښتې په نبی باندې درودونه وائی (د الله درود رحمت اود فرشتو درود دعا ده) انې				

اٰمَنُوْا	صَلُّوْا	عَلَيْهِ	وَسَلِّمُوْا	تَسْلِيْمًا ۝
چې ایمان مو راوړې دې | درود اولیږئ | په هغه باندې | او سلام وایئ | په سلام ونیلو سره |				
د ایمان خاوندانو ! | .تاسو هم په دۀ باندې درود او سلام وایې				

قوله تعالی:- لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ

د چانه چه د پردې نه ګولو اجازت دې :- پورتنوآیاتونوکښې د پردوخلقونه دپردې کولوحکم شوې وود دې دپاره چه دکومو نیزدې خپلوانو نه چه پرده نه وه د هغې بیان په دې آیت کښې کولې شی. په سورت نور کښې هم داسې بیان شوې چه ښځې دې خپل ښائست نه ښکاره کوی خوخپلوخاوندانوته پلارانوته سخرانوته ځامنو ته د خاوندځامنوته رونړو وریرونو خوریانوته ښځوته اوهغوی دچا ملکیت چه د دوی په لاسونو کښې وی د هغوی په وړاندې دا کارکونکی غیرخواهش مند سړو یاماشومانو په وړاندې ددې پوره تفسیر د دې آیت لاندې تیرشوې دې. د تره اوماما ذکر دلته څکه اونه کړې شو چه ممکن دی هغوی د خپلو ځامنوپه وړاندې د دوی صفتونه بیان کړی. حضرت شعبی اوحضرت قتاده رحمهما الله خود دې دواړو په وړاندې لوپټه کوزول مکروه ګڼلې.(۱) **﴿نسائهن﴾** نه مرادمؤمنانې ښځې دی. د ماتحت نه مراد وینځې غلامان دی لکه څنګه چه اول د دې بیان تیرشوې دې اواحادیث هم مونږ هم هلته نقل کړی دی.سعیدبن مسیب رحمه الله فرمائی دې نه مراد صرف هم وینځې دی.دالله ﷻ نه ویریږئ اوهغه په هرڅیز باندې شاهددې.پټ ښکاره هرڅه هغه ته معلوم دی.دهغه موجوداوحاضرویره لرئی اودهغه لحاظ کوئی.

قوله تعالی:- اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ

د آیت د درود اوسلام معانی او په انبیاؤ دالله ﷻ صلاة:- په صحیح بخاری کښې د حضرت ابوالعالیه رحمه الله نه روایت دې دالله تعالی په خپل نبی ﷺ باندې درودلیګل اود خپلو فرښتو په وړاندې دهغه تعریف او صفت بیانول دی اود فرښتو درود د حضور ﷺ د پاره دعاکول دی. ابن عباس رضی الله عنه فرمائی لکه د برکت دعا(۲) داکثرو اهل علم قول دې چه د الله ﷻ درود رحمت دې د فرښتو درودداستغفاردې(۳) عطاء رحمه الله

---

(۱) الطبری: ۳۱۸/۲۰.

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله ﴿ان الله وملائکته یصلون علی النبی....﴾:تعلیقًا قبل حدیث:٤٧٩٧.

(۳) ترمذی کتاب الوترباب ماجاء فی فضل الصلاة علی النبی ﷺ تحت رقم:٤٨٥.

Scanned with Ca

نرمانی د الله ﷻ درود سبوح قدوس سبقت رحمتی غضبی دی. د دې ایت مبارك نه مقصد دا دې چه د حضور ﷺ قدر اومنزلت عزت اومرتبه د خلقو په نظر کښې ښکاره شی اوهغوی ته پته اولګی چه پخپله الله ﷻ دحضور ﷺ تعریف کوی اودهغه فرښتې هم په حضور ﷺباندې درودواوسلام رالیګی. د ملاءاعلی دې خبر ورکولوسره اوس د زمکې والا ته حکم کولې شی چه تاسو هم په حضور ﷺ باندې درود اوسلام لیکئی دې دپاره چه د بره مخلوق اوښکته مخلوق په دې باندې اجماع اوشی. د حضرت موسی ﷺ نه بنی اسرائیلوتپوس کړې ووچه آیا الله ﷻ په تاباندې صلوة رالیګی نوالله تعالی وحی راولیګله چه دوی ته اووایه چه اوالله تعالی په خپلو انبیاءکرامو او رسولانوباندې خپل رحمت رالیګی. د دې په شان په دې آیت کښې هم ارشاددې.

الله ﷻ په مؤمنانو باندې هم رحمت لیږی:- په دویم آیت کښې الله ﷻ خبر ورکړې دی چه هم دغه رحمت الله ﷻ په خپلو مؤمنانوبندیګانو باندې هم رالیګی. ارشاددې ﴿هُوَالَّذِیْ یُصَلِّیْ عَلَیْکُمْ وَمَلٰٓئِکَتُهٗ لِیُخْرِجَکُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ ؕ وَکَانَ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَحِیْمًا ۝ تَحِیَّتُهُمْ یَوْمَ یَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚ وَاَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا کَرِیْمًا ۝﴾[1] یعنی ای ایمانداروتاسوالله ﷻ ذکرپه کثرت سره کوئی اوسحرمابنام دهغه تسبیح بیانوئی هغه پخپله هم په تاسوباندې درود رالیګی اودهغه فرښتې هم.یوبل آیت کښې دی ﴿ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیْنَ ۝﴾ [2] صبرکونکوته زیرې ورکړئی هغوی ته چه کله څه مصیبت اورسی نو هغوی ﴿ اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ۝﴾ لولی. په هغوی باندې دهغوی درب د طرف نه درود رالیګلې کیږی.حدیث شریف کښې دی الله ﷻاودهغه فرښتې دصفونو په نبی طرف والاباندې صلوة رالیګی. [3]

د حضور ﷺ صلاة په مؤمنانو :- په دویم حدیث کښې دحضوراکرم ﷺ د یوسړی دپاره دادعا ذکر ده یاالله په آل ابی اوفی باندې خپل رحمت نازل کړه[4] دجابر ﷺ بی بی حضور اکرم ﷺ ته درخواست اوکړو چه زمادپاره اوزما دخاوندد پاره صلاة راولیکئی نوحضور ﷺ اوفرمائیل الله ﷻ دې په تاباندې او ستا په خاوندباندې درود رانازل کړی. [5]

په رسول کریم ﷺ باندې درود او الفاظ د احادیثو په رنړا کښې:- د درودشریف دبیان ډیرزیات احادیث دی دکومونه چه مونږیوځو دلته روایت کوو.﴿والله المستعان﴾ بخاری شریف کښې دی هغوی ته اوونیلې شویارسول الله ﷺ مونږ تاسو ته سلام کولوباندې خو پوهیږو د صلوة څه طریقه ده؟ حضور ﷺ په التحیات کښې دواړه درود شریف اوخودل خوپه دواړو کښې د وعلی آل ابراهیم لفظ نشته دی[6] په یوبل روایت کښې دعلی ابراهیم لفظ نشته دی[7]په یوبل روایت کښې خو اولنې درود په پوره الفاظو سره دی اودویم په څه بدلون سره دی.عبدالرحمن بن ابی لیلی رحمه الله په آخره کښې وعلینا معهم هم وئیلو.[8]

---

[1] ۳۳/الاحزاب:٤۳.

[2] ۲/البقرة:۱۵۵. الخ

[3] ابوداوٗد کتاب الصلاة باب من یستحب ان یلی الامام فی الصف وکراهیة التاخر:٦۷٦وسنده حسن، ابن ماجه:۱۰۰۵، ابن حبان:۲۱٦۰.

[4] صحیح بخاری کتاب الزکاة باب صلاة الامام ودعائه لصاحب الصدقة....:۱٤۹۷، صحیح مسلم:۱۰۷۸، ابوداوٗد: ۱۵۹۰، احمد:۳۵۳/٤، مسندالطیالسی:۸۱۹.

[5] ابوداوٗد کتاب الوتر باب الصلاةعلی غیرالنبی:۱۵۳۳وسنده صحیح، احمد: ۱۹۸/۳، دارمی:۲٤/۱،ابن حبان:۹۱٦، بیهقی:۱۵۳/۲.

[6] صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب قوله ﴿ان الله وملائکته یصلون علی النبی....﴾:٤۷۹۷، احمد:۲٤٤/٤، صحیح مسلم:٤۰٦.

[7] صحیح مسلم کتاب الصلاة باب الصلاة علی النبی بعد التشهد: ٤۰۵.

[8] ترمذی کتاب الوتر باب ماجاء فی صفة الصلاة علی النبی ﷺ:٤۸۳وهوصحیح

Scanned with Ca

د سلام الفاظ:دکوم سلام چه دلته ذکر دي هغه په التحيات کښې ((السلام عليك ايها النبى ورحمة الله وبركاته)) دي دا التحيات به نې دقرآن پاك دسورت په شان خودلو. او په يوروايت کښې((اللهم صل على محمد عبدك ورسولك)) هم دي اوپه روستونې درود کښې لږ شان بدلون دي. (۱) په يوبل روايت کښې د درود الفاظ دادی ((اللهم صل على محمد وازواجه وذريته كما صليت على ابراهيم وبارك على محمد وازواجه وذريته كما باركت على ال ابراهيم انك حميد مجيد))(۲) په بعضې روايتونو کښې د على ابراهيم نه پس فى العالمين لفظ هم دي(۳) په يو روايت کښې سوال کښې دالفظ هم دي چه مونږ درودپه مونځ کښې څنګه اولولو؟(۴)

تشهد کښې د درو حکم او په دي کښې اختلاف:- دامام شافعی رحمه الله مذهب دا دي چه د مانځه په آخری تشهد کښې که چا درود اونه لوستلو نود هغه مونځ نه صحيح کيږی د درود لوستل دغه خای کښې واجب دی. بعضې متاخرينوپه دي مسئله کښې د امام صاحب رحمه الله رد کړي دي وئيلي دی چه داصرف هم د هغوی قول دي اود دي خلاف اجماع ده. حالانکه داغلط دی د صحابه کرامو رضی الله عنهم يوې ډلې هم دا وئيلی دی مثلاً ابن مسعود رضی الله عنه حضرت ابومسعودبدری رضی الله عنه اوحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه په تابعينو کښې هم د دي مذهب خلق تيرشوی دی لکه شعبی ابوجعفر باقر مقاتل بن حيان رحمهم الله وغيره اود شافعيه خود ټولو هم دا مذهب دي. د امام احمد رحمه الله هم آخری قول دا دي لکه څنګه چه د ابوزرعه دمشقی بيان دي.اسحاق بن راهويه امام محمد بن ابراهيم فقيه رحمهم الله هم دا وائی. بلکه بعضې حنبلی انمه هم وئيلی دی چه کم نه کم صلی الله عليه وسلم خو په مانځه کښې وئيل واجب دی. لکه چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په سوال باندې حضورپاك ﷺ تعليم ورکړو اوزمونږ بعضې ملګرو هم د حضور ﷺ په آل باندې درود ليګل هم واجب ګنړلی. غرض دا چه په مانځه کښې د درود واجب کيدلو قول ډير ښکاره دي اوپه حديث کښې د دي دليل هم موجود دي. په سلفواوخلفوکښې د امام شافعی رحمه الله نه علاوه انمه هم د دي قائل دی نودا وينا کول په يو شان سره هم صحيح نه ده چه هم د امام صاحب دا قول دي او د دي خلاف اجماع ده د دي تائيدد دي صحيح حديث نه هم کيږی کوم چه په مسنداحمدکښې ترمذی ابو داؤد نسائی ابن خزيمه وغيره کښې دي چه حضوراکرم ﷺ اوريدل چه يوسړی بغيرد الله ﷻ د حمداوثنا نه او بغير په حضوراکرم ﷺ باندې د درود شريف وئيلو نه په خپل مونځ کښې دعااوکړه نوحضور ﷺ اوفرمائيل دي سړی ډيره تندی اوکړه. بيائی دي راوغوښتو وئی فرمائيل چه کله تاسو کښې څوك مونځ کوی نواول دالله تعالی تعريفونه بيانوئی بيا درود لولئی اوبياچه کوم غواړئی دعا کوئی (۵) ابن ماجه کښې دی چه د چا اودس نه وی د هغه مونځ نشته اوڅوك چه په اودس کښې بسم الله اونه وائی د هغه اودس نشته. څوك چه په نبی کريم ﷺ باندې درود اونه لولی د هغه مونځ نشته(۶) څوك چه انصارو سره مينه اونه ساتی د هغه مونځ نشته. خود دي په سندکښې عبدالمهيمن راوی متروك دي په طبرانی کښې دا روايت د هغه د رور نه نقل دي. خو په دي کښې هم نظردي اومعروف روايت هم اولنې دي. والله اعلم. مسنداحمدکښې دی چه مونږ اووئيل حضور ﷺ مونږ په تاسو باندې سلام وانيلوباندې

---

(۱) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة الاحزاب باب قوله تعالى ﴿ان الله وملائكته يصلون على النبى﴾:۴۷۹۸، ابن ماجه:۹۰۳.

(۲) صحيح بخاری كتاب احاديث الانبياء باب نمبر:۱۰حديث:۳۳۶۹، صحيح مسلم۴۰۷، ابوداؤد:۹۷۹، ابن ماجه:۹۰۵.

(۳) صحيح مسلم كتاب الصلاة باب الصلاة على النبى ﷺبعد التشهد:۴۰۵.

(۴) ابوداؤد كتاب الصلاة باب الصلاة على النبى بعدالتشهد:۹۸۱وهوصحيح، احمد:۱۱۹/۴، ابن خزيمه:۷۱۱،ابن حبان:۱۹۵۹، حاكم: ۴٦۸/۱.

(۵) ابوداؤد كتاب الوتر باب الدعاء: ۱۴۸۱وسنده حسن،الرمذی:۳۴۷۷، نسائی۱۲۸۵، احمد:۱۸/٦، ابن خزيمه:۷۰۹،

(٦) ابن ماجه كتاب الطهارة باب ماجاءفی‌السمية ق الوضوء: ۴۰۰، دارقطنی:۳۵۵۱،حاكم:۲٦۹/۱،بيهقی:۳۷۹/۲.

خو پوهیږو درود راته اونبایئی. نوحضوراکرم ﷺ اوفرمائیل چه داسې وائې ((اللهم اجعل صلواتك ورحمتك وبركاتك على محمد وعلى ال محمد كما جعلتها على ابراهيم وال ابراهيم انك حميد مجيد))(۱) د دې یوراوی ابوداؤد اعمی د کوم نوم چه نفیع بن حارث دې متروك دې. د حضرت علی ﷺ نه خلقو ته دا دعاخودل هم نقل دی.

((اللهم داحي المدحوات وباري المسموكات وجبار القلوب على فطرتها شقيها وسعيدها اجعل شرائف صلوتك ونواحي بركاتك وفضائل الائك على محمد عبدك ورسولك الفاتح لما اغلق والخاتم لما سبق والمعلن الحق بالحق والدامغ لجيشات الاباطيل كما حمل فاضطلع بامرك بطاعتك مستوفزا في مرضاتك غير نكل في قدم ولا وهن في عزم واعيال وحيك حافظا لعهدك ماضيا على نفاذ امرك حتى اورى قبسا لقابس الاء الله تصل باهله اسباب به هديت القلوب بعد خوضات الفتن والاثم وابهج موضحات الاعلام ونائرات الاحكام ومنيرات الاسلام فهو امينك المامون خازن علمك المخزون وشهيدك يوم الدين بعيثك نعمة ورسولك بالحق رحمة اللهم افسح له في عدنك واجزه مضاعفات الخير من فضلك له مهنات غير مكدرات من فوز ثوابك المعلول وجزيل عطائك المحلول اللهم اعل على بناء البناء واكرم مثواه لديك ونزله واتمم له نوره واجزه من ابتعاثك له مقبول الشهادة مرضي المقالة اذا منطق عدل وخطة فصل وحجة وبرهان عظيم))

خوددې سندتیك نه دې. زمونږ شیخ ابوالحجاج مزی فرمائی چې ددې یوسلامه کندی نه معروف دې او نه د ده ملاقات د حضرت علی ﷺ سره ثابت دې. ابن ماجه کښې دی عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی کله چه تاسو په رسول الله ﷺ باندې درودشریف وائې نودیر ښکلې درود شریف وائې ډیر ممکن دی چه ستاسو دا درود شریف حضور ﷺ ته پیش کړې شی. خلقو وئیل چه بیا تاسو مونږ ته څه داسې درود اونبایئی. هغوی اوفرمائیل دا بهتردې داسې وائې ((اللهم اجعل صلوتك ورحمتك وبركتك على سيد المرسلين وامام المتقين وخاتم النبيين محمد عبدك ورسولك امام الخير وقائد الخير ورسول الرحمة ابعثه مقاما محمودا يغبطه الاولون والاخرون)) ددې نه پس دالتحیات دواړه درود شریف لول.(۲) دا روایت هم موقوف دې. د ابن جریر په یو روایت کښې دی حضرت یونس بن حباب رحمه الله د خپل فارس په یوه خطبه کښې د دې آیت تلاوت اوکړو بیائی د خلقو د درود د طریقې د سوال بیان اوکړو دحضوراکرم ﷺ په جواب کښې ((وارحم محمدا وال محمد كما رحمت ال ابراهيم)) نی هم بیان کړو. ددې نه داهم استدلال کړې شوې دې چه د هغوی د پاره د رحم دعا هم ده. د جمهورو هم دا مذهب دې. د دې نور تائیدد دې حدیث نه هم کیږی په کوم کښې چه دی یواعرابی په خپله دعا کښې وئیلې وو اې الله ﷻ په ماباندې اوپه محمدرسول الله ﷺ باندې رحم اوکړه اومونږ سره په نور چا باندې رحم مه کوه نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه تا خوډیر کولاوخیز راتنګ کړو. (۳) قاضی عیاض رحمه الله د جمهورمالکیه نه د دې عدم جواز نقل کړې دې. ابومحمدابن ابوزید رحمه الله هم ددې جواز طرف ته تلې دې.دنبی کریم ﷺ ارشاد دې چه ترکومې څوك په ماباندې درود رالیږی نوترهغه وخته پورې فرښتې هم دهغه د پاره د رحم دعاکوی.اوتاسوته اختیاردې چه کمې کوئی که زیاتې.(۴) رسول الله ﷺ فرمائی دتولونه اوچت به ماسره د قیامت په ورځ هغه وی چه د تولونه زیات په مادرود وائی. (۵)

ارشاد دې چه څوك په مایوځل درود راولیږی الله ﷻ په هغه باندې لس خپل رحمتونه رالیږی. په دې یوسړی اووئیل بیا خو به زه د خپلې دعا نیم وخت هم په درود شریف کښې تیروم. وئی فرمائیل چه

---

(۱) احمد:۳۵۳/۵

(۲) ابن ماجه کتاب اقامة الصلوات باب الصلاة على النبي ﷺ:۹۰۶،

(۳) صحیح بخاری کتاب الادب باب رحمة الناس والبهائم: ۶۰۱۰، ابوداؤد: ۳۸۰، ترمذی:۱۴۸، احمد:۲۳۹/۲،

(۴) ابن ماجه کتاب اقامة الصلوت باب الصلاة على النبي ﷺ:۹۰۷،

(۵) ترمذی کتاب الوتر باب ماجاء فی فضل الصلاة على النبي ﷺ:۴۸۴وسنده حسن، التاريخ الكبير:۱۷۷/۵،ابن حبان:۹۱۱.

Scanned with Ca

څنګه ستا مرضی وی. هغه وئیل چه بیاخو به زه دریمه حصه کوم؟ حضورﷺ اوفرمائیل که ته غواړې نو. هغه بیا وئیل چه زه خوخپل ټول وخت هم د دې د پاره کوم. وئی فرمائیل دې وخت کښې به تاالله ﷻ د دین اودنیادغم نه خلاص کړی اوستاګناهونه به معاف کړی. د ابی بن کعب ﷺ بیان دې چه د نیمې شپې وخت کښې به حضورﷺ بهر وتلو اوفرمائیل به ئی خوزونکې راتلونکې دې اودې پسې شاشاته لګیدونکې هم دې. حضرت ابی ﷺ یوخل اووئیل یارسول الله ﷺ زه د شپې څه مونځ کوم اود دې نیمه حصه په درودشریف کښې تیروم حضورﷺ اوفرمائیل نیمه حصه هغه وئیل چه نیمه نی کړم که دریمه ئی کړم؟ وئی وئیل چه ښه ده زه به پوره وخت په دې کښې تیروم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیاخو به الله ﷻ ستا ټول ګناهونه معاف کړی. (۱)

ددې روایت یوبل سندهم دې چه دویمه حصه شپه تیریدو نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل اې خلقو الله ﷻیادکړئی اې خلقوالله ﷻ ذکراوکړئی.ګورئی ږچونکې راروان دې مرګ خپل ځانسره ټول مصیبتونه آفتونه راروان کړی راځی. مرګ خپل ځان سره ټول ځیزونه راوړی.ابی ﷺ اووئیل یارسول الله ﷺ زه په تاسو باندې په کثرت سره درود وایم نوپه دې کښې څومره وخت تیرکړم. حضورﷺ اوفرمائیل چه څومره ته غواړې. وئیل څلورمه حصه؟ وئی فرمائیل چه څومره غواړې زیاته کړې نو نوره بهتره ده. وئیل نیم؟ نوهم دا جواب ئی ورکړو. تپوس ئی اوکړو دویمه حصه؟ نوهم دا جواب ملاوشو. وئیل چه بس زه هم ټول وخت په دې کښې تیروم. وئی فرمائیل چه بیاخو به الله ﷻ تا دټول وهم اوغم نه بچ کړی اوستا ګناهونه به معاف کړی(۲)یوسړی حضورﷺ ته اووئیل که زه خپل ټول صلاة هم په تاسوکړم نو؟حضورﷺ اوفرمائیل د دنیااوآخرت ټول مقصدونه به دې پوره شی(۳)حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ فرمائی حضوراکرم ﷺ یوخل د کورنه اووتلوزه ورسره ووم.حضورﷺ د کهجورو یوباغ ته لاړو اوهلته په سجده راپریوتلو دومره اوږده سجده ئی اوکړه اودومره وخت ئی اولګولو چه زه خو اوویریدلم چه روح تری لاړو.نیزدې لاړم اومې کتل نو حضورﷺ سرراوچت کړو مانه ئی تپوس اوکړو څه خبره ده؟ ماخپل حالت ښکاره کړو وئی فرمائیل خبره داوه چه حضرت جبرائیل ﷺ ماله راغلو اوماته ئی اووئیل زه تاته زیرې اوروم الله ﷻ رب العزت فرمائی څوک چه په تاباندې درود لیګی زه به هم په هغه باندې درود لیګم او څوک چه په تا باندې سلام رالیګی زه به هم په هغه باندې سلام ورلیګم. (۴)

یوبل روایت کښې دی چه دا سجده په دې امرباندې دالله ﷻ په شکریه باندې وه(۵)یوخل حضور اکرم ﷺ دخپل څه کارد پاره اووتلوهیڅ څوک نه وو چه ورسره تلې وې نوعمر ﷺ په تندئی سره شاشاته لاړو. وئی کتل چه حضورﷺ په سجده کښې دې نو لرې لاړو اودریدو.حضورﷺسر اوچت کړواوهغه طرف ته ئی اوکتل وئی فرمائیل تادا ډیرښه اوکړه چه زه دې په سجده کښې اولیدم اولرې لاړې.واوره ماله جبرائیل ﷺ راغلوونی فرمائیل ستاپه امت کښې چه څوک یوخل په تا باندې درود اووائی الله ﷻ به په هغه باندې لس رحمتونه راولیګی. اود هغه به لس درجې اوچتې کړی. (۶)

یوخل حضورﷺخپلوصحابه کرامولهراغلو.دمخ مبارک نه ئی خوشحالی ښکاریده. صحابه کرامورضی الله عنهم د سبب تپوس اوکړو نوونی فرمائیل یوې فرښتې ماله دا زیرې راکړو چه زما امتی کله په ما باندې درود

---

۱) فضل الصلاة علی النبی ﷺ: ۱٤

۲) ترمذی کتاب صفة القیامة باب فی الترغیب فی ذکر الله وذکر الموت.....: ۲٤٥۷، احمد:۱۳٦/٥، حاکم:۵۱۳/۲،

۳) احمد:۱۳٦/٥

٤) احمد: ۱۹۱/۱ حاکم:۳۳۳/۲،مجمع الزوائد:۲۸۷/۲.

٥) احمد:۱۹۱/۱.

٦) المعجم الصغیر: ۹۰/۲

اولولی نوداللہ ﷻ لس رحمتونه به په هغه باندې رالیګلې کیږی.دغه شان دیوسلام په بدله کښې به لس سلامونه(۱)یوبل روایت کښې دی چه په یودرودبه لس نیکئی ملاویږی لس ګناهونه به معاف کیږی اولس درجې به نی زیاتیږی اوهم ددې په مثال به هغه ته واپس کولې شی(۲)کوم سړې چه په ماباندې یوځل درود راولیګی اللہ ﷻ به په هغه لس رحمتونه نازل کړی(۳) فرمائی چه په ماباندې درود رالیږئی هغه ستاسو دپاره زکوة دې اوزمادپاره وسیله غواړئی هغه په جنت کښې یوه اوچته درجه ده چه هم یوکس ته به ملاویږی څه عجیبه ده چه هغه هم زه یم(۴)دحضرت عبداللہ بن عمرو ﷺ قول دې چه په حضوراکرم ﷺ باندې څوك درود لیګی اللہ ﷻ اود هغه فرښتې په هغه باندې اویاځل درود لیګی. اوس چه څوك غواړی نوکم دې کړی اوچه څوك غواړی نوزیات دې کړی. واورئی یوځل نبی کریم ﷺ مونږ له تشریف راوړو داسې لکه چه څوك یوکس رخصت کوی. دړې خل نی اوفرمانیل زه امی نبی محمد ﷺ یم زما نه پس څوك نبی نشته ماته ډیرواضحه ډیر کولاو جامع اوختم کونکې کلام راکړې شوې دې.ماته د دوزخ د داروغه ګانو اود عرش د اوچتونکو فرښتوشمیر خودلې شوې دې په ماباندې خاص پرزونې شوی دی اوما ته اوزما امت ته عافیت راکړې شوې دې. ترکومې چه زه په تاسوکښې موجودیم اورئی اومنئی اوکله چه زما رب ماواخلی نو کلام اللہ کلك اونیسئی. ددې حلال حلال او حرام نی حرام اوګنړئی(۵)فرمائی چه دچا په وړاندې زماذکر اوشی هغه له پکاردی چه په ماباندې درود راؤلیږی دیوځل درود لیګلوسره اللہ ﷻ په هغه باندې لس رحمتونه نازلوی(۶)یودرود لس رحمتونه ورکوی اولس ګناهونه معاف کوی(۷)بخیل هغه دې چه دچاپه وړاندې زما ذکراوکړې شواوهغه په ما باندې درودنه لولی(۸)یوبل روایت کښې دی داسې سړې د ټولونه زیات بخیل دې. په یومرسل حدیث کښې دی چه دانسان د پاره دومره بخل کافی دې چه دهغه په وړاندې زما نوم واخستې شی اوهغه درود اونه وائی.فرمائی هغه سړې بربادشو چاسره چه زما ذکر اوکړې شواوهغه په ماباندې درودنه لیږلو.هغه هم برباد شو چه دهغه په ژوندکښې رمضان راغلواود ختمیدوپورې هغه خپل ګناهونه معاف نه کړې شو. اوهغه هم بربادکړې شوځوك چه د هغه مور پلارد بوډاوالی زمانې ته اورسیدو اوبیاهم هغه جنت ته اونه رسیدو.(۹)

داحادیثو خلاصه او د درود حکم:- دا احادیث دلیل دې په دې خبره چه په حضوراکرم ﷺ باندې درود وئیل واجب دی. دعلماؤد یوې ډلې هم داقول دې لکه طحاوی اوحلیمی وغیره. ابن ماجه کښې دی چه څوك په ماباندې درودوئیل هیرکړی هغه د جنت لارهیره کړه.(۱۰) داحدیث مرسل دې خود اولنو احادیثو

---

۱) نسائی کتاب السهو باب فضل التسلیم علی النبی ﷺ:۱۲۸٤وسنده حسن، احمد:٤/۳۰، ابن حبان:۹۱۵، حاکم:۲/٤۲۰..

۲) احمد:٤/۲۹

۳) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب الصلاة علی النبی ﷺبعدالتشهد:٤۰۸،ابوداؤد:۱۵۳۰، ترمذی:٤۸۵،ابن حبان:۹۰٦، احمد:۳/۳۸۲.(مسلم)

٤) احمد:۲/۳٦۵مسندابی یعلی:٦٤۱٤.

۵) احمد:۲/۱۷۲

٦) السنن الکبری:۹۸۸۹ابی یعلی:٤۰۰۲،مسندالطیالسی:۲۱۲۲..

۷)نسائی کتاب السهو باب الفضل فی الصلاة علی النبی ﷺ:۱۲۹۸وسنده صحیح الادب المفرد:٦٤۳، احمد:۳/۱۰۲،ابن حبان:۹۰٤.

۸)ترمذی کتاب الدعوات باب رغم انف رجل ذکرت عنده:۳۵۳٦وسنده حسن، السنن الکبری۹۸۸٤، احمد:۱/۳۰۱، حاکم:۱/۵٤۹.

۹) ترمذی کتاب الدعوات باب رغم رجل ذکرت عنده....:۳۵٤۵،وسنده حسن .

۱۰) ابن ماجه کتاب اقامة الصلوات باب الصلاة علی النبی ﷺ:۹۰۸،

سره د دې پوره تقویت کیږی. بعضې خلق وائی چه په یومجلس کښې یوځل وئیل خو واجب دی او بیا مستحب دی(۱) د ترمذی په یوبل حدیث کښې چه څوك په یومجلس کښې ناست وی اود الله ﷻ ذکر او درودکولونه بغیر راپاسی هغه مجلس به د قیامت په ورځ په هغه باندې وبال وی. که الله ﷻ غواړی نو په عذاب به ئی کړی اوکه غواړی نو معاف به ئی کړی(۲) په یوبل روایت کښې دذکرالله ذکر نشته په دې کښې داهم دی چه که هغه جنت ته هم لاړشی خود ثواب نه د محرومتیاپه وجه به هغه ته سخت افسوس وی. بعضې خلق وائی چه په ټول عمر کښې یوځل درودوئیل واجب دی بیامستحب دی دې د پاره چه د آیت تعمیل اوشی. قاضی عیاض رحمه الله په رسول الله ﷺ باندې د درود لیکلووجوب بیانولو سره د دې قول تائیدکړې دې. خوطبری فرمانی چه د آیت نه خو هم استحباب ثابتیږی اوپه دې باندې ئی داجماع دعوی کړې ده.ډیر ممکن دی چه دهغه مطلب هم دا وی چه یوځل واجب دی او بیامستحب لکه د رسول الله ﷺ د نبوت ګواهی ورکول. زه خووایم چه ډیر داسې اوقات دی چه مونږ ته په رسول الله ﷺ باندې د درود وئیل حکم دې.خوبعضې وخت کښې واجب وی اوبعضې ځای کښې واجب نه وی. اذان اوریدوسره اوګورئی مسنداحمدکښې حدیث دې چه کله ته اذان واوری نوچه څه مؤذن وائی هغه ته هم وایه بیا په ماباندې درود وایه د یوپه ځای به لس ځل درود الله ﷻ په تاراولیګی. بیازما د پاره وسیله غواړه چه په جنت کښې یومنزل دې اوهم یوبنده د هغې مستحق دې اوزما امید دې چه هغه بنده به هم زه یم. واورئی چه څوك زما د پاره د وسیلې دعاکوی د هغه د پاره زما شفاعت حلالیږی.(۳) اود درود زکاة کیدو په حدیث کښې هم د دې بیان تیرشوې دې. ارشاد دې چه کوم سړې درود راولیګی اووائی ((اللهم انزله المقعد المقرب عندك يوم القيمة)) د هغه د پاره به زما شفاعت د قیامت په ورځ واجب شی. (۴) آبن عباس رضی الله عنه نه دادعانقل ده. ((اللهم تقبل شفاعة محمد الكبري وارفع درجته العليا واعطه سؤله في الاخرة والاولى كما اتيت ابراهيم وموسى))

جمات ته د تلواود راوتودعا:- مسندکښې دی حضرت فاطمة الزهری رضی الله عنها فرمائی کله چه به حضور ﷺ جمات ته تلونو د درود اوسلام نه پس به ئی لوستل((اللهم اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب رحمتك)) اوچه کله به دجمات نه وتلو نو د درواوسلام نه پس به ئی وئیل ((اللهم اغفرلی ذنوبی والفتح لی ابواب فضلك))(۵) دحضرت علی رضی الله عنه فرمان دې کله چه جمات ته لاړشې نو په حضور ﷺ باندې درودوایه.

د مانځه په آخری قعده کښې د التحیات درود:- د دې بحث اول تیرشوې دې اوپه اول تشهدکښې دې ته چا واجب نه دی وئیلی البته د مستحب کیدو یوقول د امام شافعی رحمه الله دې سره د دې چه دویم قول د دې خلاف هم د دوی نه نقل دې.

په مانځه کښې د درود شریف لوستلو حکم

مسلک حنفی:- د حنفیانو په نیز په مانځه کښې په آخری قعده کښې درود شریف وئیل فرض نه دی.بلکه مسنون دې.(تسهیل الهدایه شرح هدایه (۳۵۱۱۱)-

---

۱) ترمذی تحت رقم ۳۵۴۵

۲) ترمذی کتاب الدعوات باب ماجاء ق القوم يجلسون ولايذكرون الله: ۳۳۸۰وهوصحيح، احمد:۲/۴۴۶، ابن حبان:۵۹۰.

۳) صحيح مسلم كتاب الصلاة باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه:۳۸۴، ابوداؤد:۵۲۳، ترمذی: ۳۶۱۴، احمد:۲/۱۶۸، ابن حبان: ۱۶۹۰، بيهقی:۱/۴۱۰.

۴) احمد:۴/۱۰۸ المعجم الوسط:۳۳۰۹، مجمع الزوائد:۱/۱۶۳

۵) ترمذی كتاب الصلاة باب ماجاء مايقول عند دخول المسجد:۳۱۴ابن ماجه:۷۷۱، احمد:۶/۲۸۲،مسندابی يعلی:۶۸۲۲، شرح السنة:۳۸۱، ابن ابی شيبه:۱/۳۳۸.

د جنازې په مانځه کښې په حضور ﷺ باندې درودلوستل:- سنت طریقه دا ده چه په اول تکبیرکښې سورة فاتحه اولولی په دویم تکبیرکښې درود اولولی په دریم کښې د مړی دپاره دعااوکړی او په څلورم کښې ((اللهم لاتحرمنا اجره ولاتفتنا بعده)) الخ لولئی. د یوصحابی ﷺ قول دې چه د جنازې مسنون مونځ دا دې چه امام تکبیر اوائی نو په مزه باندې الحمداولولئی بیا په حضور ﷺ باندې درود اووایئی اود جنازې د پاره په اخلاص دعا اوکړئی اوپه تکبیرونوکښې هیڅ مه وائې بیاپه مزه باندې سلام اوګرځوئی. (۱)

د جنازې په مونځ کښې د سورة فاتحې لوستلو حکم

مسلک حنفی:- زمونږ (د حنفیانو) په نیز د اولنی تکبیر نه پس د سورة فاتحه لوستل مشروع نه دی. (تسهیل الهدایه ۷۳۱۲)-

د اترپه مانځه کښې حضرت ابن مسعود ﷺ حضرت ابوموسی ﷺ او حضرت حذیفه ﷺ له راغلوولید بن عقبه ﷺ اوئیل داختروخ ده د تکبیرونوځه کیفیت دې؟عبدالله ﷺ اووئیل تکبیرتحریمه وئیلو سره د الله ﷻ حمد اوکړه بیا په رسول الله ﷺ باندې درود اووایه بیادعااوغواړه بیاتکبیر اوکړه، بیاهم دا اوکړه تکبیر اووایه، بیا دا اوکړه تکبیر اووایه اوبیاهم دا اوکړه تکبیراووایه بیا تکبیر اووایه. بیا قراءت اوکړه اوبیاتکبیرونیلو سره رکوع اوکړه. بیا اودریږه اولوله اود خپل رب حمدبیان کړه په حضور ﷺ باندې صلوة اولوله دعااوکړه اوتکبیر اووایه اوهم دغه شان اوکړه بیارکوع ته لاړشه. حضرت حذیفه ﷺ حضرت ابوموسی ﷺهم د دې تصدیق اوکړو.

د دعا په ختمیدوباندې :- ترمذی شریف کښې د حضرت عمر ﷺ قول دې چه دعاد زمکې اوآسمان په مینځ کښې زوړنده وی تردې چه درود شریف اولولی نو خیژی(۲)یومرفوع روایت داسې هم راغلې دې پدې کښې دی چه ددعا په اول کښې په مینځ کښې اوپه آخره کښې درودشریف لولئی. په یوغریب اوضعیف حدیث کښې دی چه ما د سور د پیالئی په شان مه کوئی کله چه هغه خپل ټول ضروری څیزونه اخلی نوداوبو کټورې هم ډکوی که د اودس ضرورت پیش شونواودس به اوکړی که تګې شو نو اوبه ئی څکی ګنی هسې به ئی واړوی. د دعا په شروع کښې د دعاپه مینځ کښې اوددعاپه آخره کښې په ماباندې درودشریف لولئی. خاصکرپه دعائی قنوت کښې ددرود شریف ډیرتاکید دې. حضرت حسن ﷺ فرمائی ماته رسول الله ﷺ داکلمات اوخودل کوم چه په وتروکښې لولم. ((**اللهم اهدنی فیمن هدیت وعافنی فیمن عافیت وتولنی فیمن تولیت وبارك لی فیما اعطیت وقنی شرما قضیت فانك تقضی ولا یقضی علیك انه لایذل من والیت ولایعزمن عادیت تبارکت ربنا وتعالیت**))(۳) د نسائی په روایت کښې په آخره کښې دالفاظ هم دی. ((**وصل الله علی النبی**))(۴)

د جمعه په ورځ اودجمعې په شپه درود شریف وئیل:- مسنداحمدکښې دی دټولونه غوره ورځ د جمعه ورځ ده. هم په دې ورځ حضرت آدم ﷺ پیداکړې شو اوهم په دې ورځ واخستې شو هم په دې ورځ شپیلئی ده اوهم په دې ورځ بې هوشی ده.نوتاسو په دې ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئی. ستاسو درود ماته پیش کولې شی. صحابه کرامورضوان الله علیهم اجمعین اووئیل چه تاسو خو به په زمکه کښې وراسته کړې شوی ئی. بیابه زمونږ درود تاسو ته څنګه پیش کولی شی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله ﷻ په زمکه باندې د انبیاء کرامو بدنونه خوړل حرام کړی دی. ابوداؤد نسائی وغیره کښې هم دا

---

(۱) حاکم: ۳۶۰/۱وهوصحیح، النسائی ۷۵/٤ح ۱۹۹۱، بیهقی:۳۹/٤، الام للشافعی:۲۳۹/۱.

(۲) ترمذی کتاب الوتر باب ماجاء فی فضل الصلاة علی النبی ﷺ:٤۸٦.

(۳) ابوداؤدکتاب الوتر باب القنوت فی الوتر:۱٤۲۵-۱٤۱٦وهوصحیح، ترمذی:٤٦٤، ابن ماجه:۱۱۷۸، احمد:۲۰۰/۱،

(٤) نسائی کتاب قیام اللیل باب الدعاء فی الوتر:۱۷٤۷.

Scanned with Ca

حدیث دی(۱)ابن ماجه کښې دی دجمعه په ورځ په کثرت سره درود وائي پدغه ورځ فرښتي حاضریږی ترکومې پورې چه څوك په مادرود وائی هغه ماته پیش کولې شی ترڅو چه هغه فارغ شوې نه وی. تپوس اوکړې شو د مرګ نه پس هم؟ وئی فرمائیل الله ﷻ په زمکه باندې د انبیاء کرامو بدنونه سخا کول اوخاورې کول حرام کړی دی د الله ﷻ انبیاءکرام ژوندی دی اوهغوی ته رزق ورکو لې شی.(۲) دا حدیث غریب دې اوپه دې کښې انقطاع ده. عباده بن نسی ابوالدرداء ﷺ نه دې لیدلې. والله اعلم. بیهقی کښې هم حدیث دې چه د جمعه په ورځ او د جمعه په شپه په ماباندې درود وائي(۳)خوهغه هم ضعیف دې. یوروایت کښې دی چه دهغوی بدن زمکه نه خوری چاسره چه روح القدس کلام کړې وی خو داحدیث هم مرسل دې. په یوبل مرسل حدیث کښې هم د جمعه په ورځ اوشپه کښې په کثرت سره د درود شریف وئیلو حکم دې. دغه شان په خطیب باندې هم په دواړو خطبوکښې درود وئیل واجب دی دې نه بغیریه خطبه صحیح نه وی. ځکه چه داعبادت دې او په دې کښې دالله تعالی ذکر واجب دې نود رسول الله ﷺ ذکر هم واجب دې. لکه اذان اومونځ. د امام شافعی اوامام احمد رحمهما الله هم دا مذهب دې.

په خطبه کښې د درود شریف وئیلو حکم

مسلک حنفی:- په خطبه کښې د درود شریف لوستل سنت دی (عالمگیری کتاب الصلاة ۱/۷۳).

دسلام متعلق نور روایات:- ابوداؤد کښې دی کوم مسلمان چه په ماباندې سلام لولی الله ﷻ زما روح راواپس کوی تردې چه زه د هغه د سلام جواب ورکوم(۴)ابوداؤدکښې دی خپل کورونه قبرونه مه جوړوئی زما په قبرباندې عرس اومیله مه لګوئی هلته په ماباندې درود وائی که تاسو هرځای کښې ئی خوستاسو درودماته رسولې شی(۵)قاضی اسماعیل بن اسحاق خپل کتاب فضل الصلوة کښې یوروایت راوړلې دې یوسړې به هرسحر د رسول الله ﷺ روضه ته راتلو اودرود اوسلام به ئی وئیلو. یوه ورځ هغه ته حضرت علی بن حسین بن علی رحمهما الله اووئیل ته هره ورځ داسې ولې کوې؟ هغه وئیل په حضور ﷺ باندې سلام وئیل زما پدیر خوښ دی. هغوی اوفرمائیل واوره زه تاته یوحدیث اوروم. ما د خپل پلار نه هغه زما د نیکه نه اوریدلې دې چه رسول الله ﷺ فرمائیل زما په قبرباندې اختر مه جوړوئی اونه خپل کورونه قبرونه جوړوئی تاسو چه کوم ځای کښې هم ئی دهغه ځای نه په ماباندې درود اوسلام رالیګئی ماته رارسی.(۶) د دې په اسنادکښې یوراوی مبهم دې د کوم نوم چه ذکر نه دې اوپه سندسره داروایت مرسل نقل دې. دحسن بن حسن بن علی رحمهما الله نه روایت دې هغه د رسول الله ﷺ قبر سره څه کسان اولیدل اوهغوی ته ئی داحدیث واورولو چه د حضور ﷺ په قبرباندې میله لګول ئی منع کړی دی(۷) ممکن دی چه دهغوی د څه بې ادبئی په وجه داحدیث هغوی ته د اورولو ضرورت پیش شوې وی.مثلاً هغوی چرته په اوچت آوازکښې خبرې کولې. داهم روایت دې چه هغوی یوسړې د حضور ﷺ روضې ته وار په وار په راتلوسره اولیدونووئی فرمائیل چه ته اوکوم سړې چه په اندلس کښې وی د سلام لیګلو په اعتبارسره بالکل یوشان ئی.طبرانی کښې دی چه تاسوکوم ځای کښې هم ئی سلام لیګئی سلام ماته رسولې شی. طبرانی کښې دی چه حضور ﷺ د دې آیت تلاوت اوکړو اووئی

---

(۱)ابوداؤد کتاب الصلاة الجمعة باب فضل یوم الجمعة:۱۰۴۷ نسائی:۱۳۷۵،ابن ماجه:۱۰۷۵، احمد:۸/۴، ابن حبان:۹۱۰.

(۲) ابن ماجه کتاب الجنائز باب ذکر وفاته ودفنه ﷺ:۱۶۳۶.

(۳) بیهقی:۲۴۹/۳.

(۴) ابوداؤد کتاب المناسك باب زیارة القبور:۲۰۴۱

(۵) ابوداؤد کتاب المناسك باب زیارة القبور:۲۰۴۲وسنده حسن.

(۶) مسندابی یعلی:۴۶۹

(۷) مصنف عبدالرزاق:۶۷۲۷.

Scanned with Ca

فرمانبل داخاص راز دي. که تاسو مانه تپوس نه کولو نو مابه هم نه خودلو. واورئی ماسره فربښتي مقرر دی کله چه زما ذکر دیومسلمان په وراندي کولي شی او هغه په ماباندي درود وائی نو فربښتي وائی الله ﷻ دي تااوبښی اوپخپله الله ﷻ اودهغه فربښتي کومي چه په زمکه باندي دی آمین وائی(۱) دا حدیث ډیر غریب دي اوددي سندډیر ضعیف دي. مسند احمد کښي دی د الله ﷻ فربښتي دی چه په زمکه ګرځی راګرځی زما د امت سلام ماته رارسوی(۲)په نسائی وغیره کښي هم داحدیث دي. یو حدیث کښي دی چه څوك زما قبرسره په ماباندي سلام وائی هغه زه اورم اوچه څوك د لرې نه سلام رالیږی هغه ماته رارسولي شی. داحدیث سنداً صحیح نه دي. محمدبن مروان صغیر متروك دي.

د تلبیه په وخت کښي:-زمونږ د ملګروقول دي چه د احرام والا کله لبیك وائی نوهغه هم درودونیل پکاردی. دارقطنی وغیره کښي د قاسم بن محمد بن ابوبکر صدیق رحمه الله فرمان دي چه خلقو ته به د دي خبرې حکم کولي شو.

په صفا باندي :-په صحیح سندسره د فاروق اعظم ﷺ قول نقل دي کله چه تاسو مکي ته اورسئی نو اووه ځل طواف کوئی. په مقام ابراهیم باندي دوه رکعته مونځ اداکړئی بیاصفا ته اوخیژئی دومره چه د هغه ځائ نه بیت الله په نظرراشی. هلته اودریږئی اووه تکبیر وائي د دي په مینځ کښي د الله ﷻ حمد اوثنا بیان کړئی. درود لولئی اودځان د پاره دعا اوغواړئی بیا په مروه باندي داسي اوکړئی.

د ذبح کولو په وخت:-زمونږ ملګروداهم وئیلی دی چه دحلالي په وخت کښي هم دالله ﷻ نوم اخستو سره درود وئیل پکار دی.آیت ﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾(۳) نه هغوی تائیدغوښتي دي ځکه چه ددي په تفسیر کښي دی چه کوم ځائ دالله ﷻ ذکراوکړي شی دحضور ﷺ نوم به هم اخستي شی جمهورددي مخالف دی وائی چه دلته صرف دالله ﷻ ذکر کافی دي.لکه دخوراك په وخت کښي اودجماع په وخت کښي وغیره. په دي وخت کښي درود وئیل د سنتونه ثابت نه دی. په یوحدیث کښي دی چه د الله ﷻ په ټولو انبیاؤ کرامو اورسولانو صلوة اوسلام لیکئی هغوی هم زما په شان د الله ﷻ رالیکلي شوی دی. خود دي په سندکښي دوه ضعیف راویان دی عمر بن هارون او دهغه استاذ د غوږ د خبرو اوریدو په وخت کښي هم درود وئیل په یوحدیث کښي دی که د دي اسناد صحیح ثابت شی نو په صحیح ابن خزیمه کښي دی.کله چه ستاسو په غوږکښي آواز راځی نومایادوئی اودرود لولئی اوفرمائی چاچه زه په ښیګړه سره یادکړم هغه به الله ﷻ هم یادکړی. د دي سندغریب دي اود دي په ثبوت کښي نظردي

مسئله:-اهل کتابت داخبره مستحب ګڼړی چه کله لیکونکي دحضوراکرم ﷺ نوم لیکی نودي سره دي درودلیکی.په یوحدیث کښي دی کوم سړي چه په یوکتاب کښي په ماباندي درودلیکی دهغه د درود ثواب به ترهغه وخته پوري جاری وی ترکومي پوري چه هغه کتاب موجودوی.خو په یوځو وجوهاتو دا حدیث صحیح نه دي. بلکه د امام ذهبی رحمه الله استاذ دي ته موضوعی وائی.حدیث په ډیرو طریقو سره نقل دي خود دي یوسندهم صحیح نه دي. خطیب بغدادی رحمه الله په خپل کتاب آداب الراوی والسامع کښي لیکلی دی ماد امام احمد رحمه الله دلاس لیکلي شوي کتاب کښي په ډیروځایونوکښي درسول الله ﷺ نوم لیدلي دي خویوځائ کښي هم درود نه وو لیکلي شوي. هغوی به زبانی درود لوستلو.

(فصل)په غیر نبی د صلاة حکم او په غیر نبی د صلاة حکم:-دنبیانونه علاوه په غیرنبیانوباندي صلوة لیږل

---

۱) طبرانی:۲۷۵۳مجمع الزوائد:۹۶/۷.

۲) نسائی کتاب السهو باب التسلیم علی النبی ﷺ:۱۲۸۳وسنده صحیح، احمد:۴۵۲/۱.

۳) ۹۴/الم نشرح:۴.

که تبعاً وی نو بې شکه جائزدي لکه چه په حدیث کښې دی((اللهم صلی علی محمدواله وازواجه وذریته))او په صرف غیرنبیانو باندې صلوة لیګلوکښې اختلاف دي.بعضې داجائزګنړی اوپه دلیل کښې داآیت ﴿هُوَ الَّذِیْ یُصَلِّیْ عَلَیْکُمْ وَمَلٰٓئِکَتُهٗ لِیُخْرِجَکُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ ؕ وَکَانَ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَحِیْمًا۝﴾(۱) اوآیت ﴿اُولٰٓئِکَ عَلَیْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۟ وَاُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ۝﴾(۲) او ﴿وَصَلِّ عَلَیْهِمْ ؕ اِنَّ صَلٰوتَکَ سَکَنٌ لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ۝﴾(۳)پیش کوی.اودا حدیث هم چه رسول الله ﷺ له به دچاصدقه راتله نو فرمانیل به نی ((وَصَلِّ عَلَیْهِمْ ؕ))عبدالله بن ابی اوفی ؓ فرمانی کله چه زما پلارحضور ﷺ له د صدقه مال راوړو نوحضوراکرم ﷺ اوفرمائیل ((اللهم صلی علی ال ابی اوفی)) (بخاری اومسلم)(۴)یوبل حدیث کښې دی یوښځې وئیل یارسول الله ﷺ په ماوزما په خاوندباندې صلوة راولیګه نوحضوراکرم ﷺ اوفرمائیل ((صلی الله علیك وعلی زوجك)) (۵) خو جمهور علماء د دې خلاف دی اووائی چه په نورو باندې د انبیاؤکرامو نه علاوه خاصة درودلیګل منع دی. د دې د پاره چه د دې لفظ استعمال د انبیاء علیهم السلام د پاره دومره زیات شوې دې چه اوریدوسره په ذهن کښې دا خیال راځی چه دانوم د یونبی دی نواحتیاط هم په دې کښې دې چه د غیرنبی دپاره دې دا الفاظ نه شی وئیلې. مثلاً ابوبکر ؓ یاعلی ؓ دې نه شی وئیلې سره د دې چه په معنی کښې هیڅ قباحت نشته لکه څنګه چه محمد عزوجل نه شی وئیلې. سره د دې چه ذی عزت اوذی مرتبه هغوی هم دی.ځکه چه دا لفظ دالله ﷻ دذات دپاره مشهورشوی دی.اوپه کتاب اوسنت کښې دصلوة استعمال دغیرانبیاء دپاره شوې دې. هغه ددعا په توګه وو هم په دې وجه دهغې نه پس آل ابی اوفی چا په دې الفاظوسره بیا نه دې یادکړې. نه حضرت جابر ؓ اود هغه بی بی. هم دا مسلك مونږ ته هم ښه لګی. والله اعلم.

د غیر نبی دپاره د ،،علیه السلام،، وئیلو حکم

مسلک حنفی:- د،، سلام،، لفظ ابتداء مستقلا د غیر نبی دپاره استعمالول جائز نه دی لکه داسې نشی وئیلې چی ((السلام علی ابی بکر رضی الله عنه)) البته تبعاً د غیر نبی دپاره هم د دې استعمال جائز دې لکه داسې وئیلی شی ((والسلام علی نبینا وعلی رفیقه ابی بکر)) اجمل الحواشی بتغیر شرح اصول شاشی (ص،۱۸)۔ بعضې خلق یوه بله وجه هم بیانوی چه د غیر انبیاؤ د پاره دا الفاظ صلوة استعمالول د بې دینه خلقو طریقه ده اوهغوی د خپل بزرګانو په حق کښې داسې الفاظ استعمالوی. نودهغوی اقتداء مونږ له نه دی کول پکار. په دې کښې هم اختلاف دې چه دامخالفت د کومې درجې پورې دې د حرمت په توګه که د کراهت په توګه یاخلاف اولی. صحیح دا دی چه دا مکروه تنزیهی دی ځکه چه دبدعتیانو طریقه دد په کوم باندې عمل کول چه ټیك نه دی اومکروه هم هغه وی په کوم کښې چه نهی مقصود وی. ډیر اعتبار په دې کښې په دې وجه دې چه د صلوة لفظ به سلفو هم د انبیاؤکرامو د پاره وئیلو لکه څنګه چه د عزوجل لفظ د الله ﷻ د پاره وئیلې کیږی. پاتې شو سلام نود دې باره کښې شیخ ابومحمدجوینی رحمه الله فرمائی چه داهم د صلوة په معنی کښې دې نو په غائب باندې د دې استعمال مه کوه اوچه کوم نبی نه وی دهغه د پاره دې خاصة نه وائی نوعلی ؓ نه دی وئیل پکار. د ژوندو اومړو هم دغه حکم دې اوچه څوك مخامخ موجود وی هغه ته خطاب کولوسره سلام علیك یا سلام علیکم یا السلام علیك

---

۱) ۳۳/الاحزاب:٤۳.
۲) ۲/البقرة:۱۵۷.
۳) ۹/التوبة:۱۰۳.
٤) د دې تخریج اول تیرشوې دې.
۵) د دې تخریج اول تیرشوې دې.

Scanned with Ca

یا علیکم وئیل جائز دی اوپه دې باندې اجماع ده. دلته دا هم یاد ساتل پکاردی چه د عامو مصنفینود قلم نه علی ﷺ راوځی یاعلی کرم الله وجهه راوځی نود معنې په لحاظ په دې کښې هیڅ حرج نشته خو په دې سره په نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې بې ادبی شان کیږی. مونږ له ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره ښکلې عقیدت ساتل پکاردی. دا د تعظیم اوتکریم الفاظ دی د دې د پاره د حضرت علی رضی الله عنه نه زیات حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه مستحق دی. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه دنبی کریم ﷺ نه علاوه په بل چاباندې صلوة نه دی لیګل پکار. اود مسلمانانو ښځو اوسړو د پاره د مغفرت دعا کول پکاردی. حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه یوځل په خپل خط کښې اولیکل چه بعضې خلق د آخرت په اعمالوسره د دنیا د راجمع کولوپه فکر کښې دی اوبعضې مولاناګان حضرات په وعظ کښې د خپلو خلیفه ګانو اوامیرانو د پاره د صلوة هم هغه الفاظ وائی کوم چه د رسول الله ﷺ د پاره وو. کله چه تاله زما داخط دراورسی نوهغه ته وایه چه صلوة صرف د نبیانود پاره دې اود عامومسلمانانودپاره د دې نه علاوه چه څه غواړې دعاکوه.

حضرت کعب رحمة الله علیه وائی هرسحراویازره فرښتې راکوزیږی اود رسول الله ﷺ قبرراګیروی اود خپلو وزرو په راغونډولوسره د رسول الله ﷺ د پاره د رحمت دعاکوی او اویازره د شپې راخی. تردې چه د قیامت په ورځ چه کله دحضوراکرم ﷺ قبر اوشلولې شی نو ورسره به اویازره فرښتې وی. (فرع) امام نووی رحمة الله علیه فرمائی چه په حضور اکرم ﷺ باندې په یوځای صلوة اوسلام لیګل پکاردی. صرف صلی الله علیه یا صرف علیه السلام مه وائی. په دې آیت کښې هم د دواړو حکم دې. نواولی هم دا دی چه داسې وائی صلی الله علیه وسلم تسلیما.

اِنَّ الَّذِيْنَ	يُؤْذُوْنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	لَعَنَهُمُ اللّٰهُ
بیشکه هغه کسان|چې تکلیف رسوی| الله ته |اورسول دهغه ته |لعنت وئیلې دې په هغوئ باندې الله				
بیشکه څوک چې الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ته تکلیف ورکوی	.....نو الله ﷻ			
فِي الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةِ	وَاَعَدَّ	لَهُمْ	عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾
	په دنیا کښې	او په اخرت کښې	او تیار کړې ئې دې	دپاره دهغوئ	عذاب سپکونکې	
به پرې په دنیا اواخرت کښې لعنت وروی	او هغوئ دپاره ئې رسوا کونکې عذاب تیار ساتلې دې			
وَالَّذِيْنَ	يُؤْذُوْنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ	بِغَيْرِ مَا
او هغه کسان	چې تکلیف رسوی	مومنانو سړوته	او مومنانو ښځو ته	بغیر دهغې عمل نه				
او څوک چې مؤمنانو سړو او مومنانو ښځو ته هیڅه بیسه (بغیرد څه وجې) تکلیف				
اكْتَسَبُوْا	فَقَدِ احْتَمَلُوْا	بُهْتَانًا	وَّاِثْمًا	مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾
چې کړې وی هغوئ	پس هغوئ په سر اغستلی ده سزا	دغټ دروغو	او دګناه	ښکاره				
ورکوی	نو هغوئ ډیر لوئې بهتان لګوی	.....او ښکاره ګناه کوی		

قوله تعالی:- اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

الله تعالی رسول ﷺ اومومنانوته تکلیف ورکول ګناه ده:- کوم خلق چه دالله ﷻ داحکامو نافرمانی کولوسره دهغه دمنع کړې شوی کارونونه نه منع کیږی اود هغه په نافرمانوباندې کلك ولاړ وی اوهغه خفه کوی اودهغه رسول ﷺ پسې قسم قسم بهتانونه تړی هغوی ملعون اومعذب دی.

Scanned with Ca

الله ﷻ ته دتکلیف ورکولو مطلب:-عکرمه رضی الله عنه فرمائی دي نه مراد تصویرونه جوړونکی دی. بخاری او مسلم کښې درسول الله ﷺ ارشاددي چه الله ﷻ فرمائی ماته بنیادم تکلیف راکوی هغه زمانې ته کنځلي کوی اوزه زمانه یم اوهم زه د شپې ورځې اړول رااړول کوم(۱)مطلب دا چه د جاهلیت والا به وئیل هائې زما نه دي هلاکه شی دي خوزمونږ سره دا اوکړه اودي مونږ سره داسې اوکړه. دالله تعالی افعال زمانې طرف ته منسوب کولوسره بیازمانې ته بدردوئیل نولکه د افعالو فاعل یعنی الله ﷻ ته بدردي وئیل دی.

نبی کریم ﷺ ته تکلیف رسول:- حضرت صفیه رضی الله عنها سره چه کله نبی کریم ﷺ نکاح اوکړه نو په دي باندې هم بعضې خلقو خبرې جوړول شروع کړې وو. د ابن عباس رضی الله عنه د قول مطابق دا آیت هم دې باره کښې نازل شوې(۲) یت عام دي که څنګه دي هم د الله ﷻ رسول ﷺ ته تکلیف ورکړو هغه به د دې آیت لاندې ملعون اومعذب وی. ځکه چه رسول الله ﷺ ته تکلیف رسول داسې ده لکه چه الله ﷻ ته تکلیف رسوې. څنګه چه د حضور ﷺ په تابعدارئی کښې د الله ﷻ تابعداری ده.

صحابه کرامو ته تکلیف رسول بهتان او غټه ګناه ده :-حضوراکرم ﷺ فرمائی زه تاسو ته الله ﷻ دریا دوم ګورئی الله ﷻ په مینځ کښې راوستوسره زه تاسوته وایم چه زماصحابه کرام زمانه پس نښه مه جوړوئی. زما دمحبت په وجه هغوی سره هم محبت ساتئی هغوی سره بغض اوکینه ساتونکې ماسره دښمنی کونکې دي هغوی ته چه چاتکلیف ورکړوهغه ماته تکلیف راکړو او چاچه ماته تکلیف راکړو هغه الله ﷻ ته تکلیف ورکړو. اوچاچه الله ﷻ ته تکلیف ورکړو نو یقین اوکړئی چه هغه به ئی لکه دبوسو والوزوی(۳)داحدیث په ترمذی کښې هم دي. کوم خلق چه ایمانداران د دې بدوطرف ته نسبت کوی کوم نه چه هغوی بری دی هغوی ډیر لوئ بهتان کونکی دی اوزبردست ګناهګاردی. په دې وعیدکښې د ټولونه اول خوکافران داخل دی بیا رافضی شیعه ګان چه په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې عیبونه لګوی. او الله ﷻ چه د چا تعریفونه کړی دی په هغوی باندې دوی بد وائی.الله ﷻ صفافرمائیلی دی چه هغه د انصارواومهاجرینونه خوشحاله دي.په قرآن کریم کښې ځائ په ځائ دهغوی ستاینې اوتعریفونه موجود دی خودا بې خبرخراب ذهن خلق هغوی ته بدوائی. د هغوی مذمت بیانوی اوپه هغوی کښې هغه خبرې یاد وی د کوم نه چه هغوی بالکل جدادی. حق دا دي چه د الله ﷻ د طرف نه د هغوی زړونه راننده شوی دی. ځکه د هغوی ژبې هم اولټه روانې دی. د تعریف شوو خلقو بدوائی اود بدو خلقو تعریفونه کوی.

عامو مسلمانانو ته د تکلیف رسول حکم:-دنبی کریم ﷺ نه سوال اوشوچه غیبت څه ته وائی نو هغوی اوفرمائیل چه ستا خپل رور داسې یادول که هغه ئی واوری نوبدورته معلومیږی. سوال اوکړې شو چه که هغه خبره په هغه کښې وی نو؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه هم دغه خو غیبت دي ګنی بیاخو بهتان دي.(۴)یوځل حضوراکرم ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه سوال اوکړو چه د ټولونه لویه سودخوری څه ده؟ هغوی وئیل الله ﷻ ته معلومه ده اود هغه رسول ﷺ ته. حضور ﷺ اوفرمائیل د الله ﷻ په نیز د ټولونه زیات سود د مسلمان بې عزتی کول دی. بیاحضور ﷺ هم د دې آیت تلاوت اوفرمائیلو.(۵)

---

(۱)صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿یریدون ان یبدلوا کلام الله﴾:۷۴۹۱، صحیح مسلم۲۲۴۶، ابوداؤد :۵۲۷۴ ،احمد:۲/۲۳۸، ابن حبان:۷۵۱۶.

(۲) الطبری:۲۰/۳۲۳.

(۳) ترمذی کتاب المناقب باب من سب اصحاب النبی ﷺ:۳۸۶۲.

(۴) ابوداؤد کتاب الادب باب فی الغیبة:۴۸۷۴وهو صحیح، ترمذی:۱۹۳۴ ،احمد:۲/۳۸۴، ابن حبان:۵۷۵۸.

(۵) ابن ابی حاتم ومسندا بی لیلی:۴۶۸۹.

Scanned with Ca

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ

اے نبی ﷺ | اووایه | ښځو خپلو ته | او لونړو خپلو ته | او د ښځو د مومنانو ته | چې زوړند دوی |
ائې پیغمبره | خپلوبیبیانو ته او خپلو لونړو ته اود نور مسلمانانو بیبیانو ته اووایه | چې په خپلو

عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ط ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يُّعْرَفْنَ

دپاسه دځانونو خپلو | پلو دځادرونو خپلو نه | داطریقه | زیاته نزدې ده | چې اوپیژندې شی هغوئ
ځانونو ځادرونه راښکته ساتی | دغه شان به زر پیژندې شی | او دوئ ته به (دبې هوده سړو دطرفنه)

فَلَا يُؤْذَيْنَ ط وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝۵۹ لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ

او تکلیف ورنه کړې شی | او دې الله | ببنونکې | مهربانه | که چرې | منع نه شو |
څه تکلیف نه رسی | او الله ﷻ ببنونکې مهربان دې | .....که چرې منافقان او هغه خلق چې

الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ

منافقان خلق |او هغه کسان | چې په زړونو دهغوئ کښې | خرابی وی | او افواکاني خورونکی خلق
زړونو کښې چې بیماری ده | .....اوهغه خلق چې په مدینه کښې افواهکاني خوروی

فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ

په مدینه کښې|خامخا به مونږه مسلط کړو تا|په هغوئ باندې|بیا |به په ګاونډ کښې پاتې نه شی ستا سره
منع نه شول |.....نومونږ به ورپسې تا ورپاځوؤ|نوبیا به دوئ تاسره په مدینه کښې

فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ۝۶۰ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا

په دې ښار کښې | مګر | ډیر لږ | لعنتونه به پر وئیلې کیږی | هر چرته چې | موندې کیږی |
ډیرلږ پاتې شی |.....او لعنتیان به شی | .....هر ځائې چې موندلې شی

اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ۝۶۱ سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ

رانیولې کیږی به|اووژلې کیږی به|په سختو وژلوسره |داطریقه دالله ده|په معامله دهغه کسانو کښې
نو نیولې به شی | او قتلولې به شی |.....الله ﷻ د پخوانو خلقو پحقله هم دا طریقه ساتلې

خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۝۶۲

چې تیر شوی دی | مخکښې ددې نه | او هر ګز به ته بیا اونه مومې | طریقې دالله لره| هیڅ بدلیدل
ده | .....اودالله ﷻ په طریقه کښې به هیڅ قسم تبدیلی بیا نه مومې

قوله تعالی:- يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ

مومنانوښځو ته دپردې حکم:- الله ﷻ خپل نبی کریم ﷺ ته فرمائی چه تاسو مؤمنانوښځو ته اووائې خاص کرخپلو بیبیانواولونړو ته ځکه چه هغوی د ټولې دنیاد ښځو نه بهتراوغوره دی چه هغوی دې خپل ځادرونه لږ زوړند ساتی. دې د پاره چه د جاهلیت د زمانې د ښځونه جدا ښکاری. دغه شان د وینځو

Scanned with Ca

نه هم د ازادوښځو پیژندګلواو فرق ښکاره شی.جلباب هغه څادر ته وائی کوم چه ښځې د لوښتې دپاسه اچوی.حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی الله ﷻ مسلمانانوښځوته حکم ورکوی چه کله هغوی د خپل څه کار دپاره بهراوځی نوچه کوم څادرهغوی اچوی نوهغه دې په سربانديې رانښکته کوی اومخ دې پټوی صرف یوه سترګه دې کولاوساتی.(۱) امام محمدبن سیرین رحمه الله په سوال باندې حضرت عبیده سلیمانی رحمه الله خپل مخ اوسرپټولو سره اوګسه سترګه پټولوسره اوخودل چه د آیت مطلب دا دی(۲)دحضرت عکرمه رحمه الله قول دې چه په خپل څادرباندې خپله غاړه پټه کړئی. حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی د دې آیت نازلیدلونه پس د انصارو ښځې چه به کله وتلې نوداسې پټې به ګرځیدلې لکه د هغوی په سرونو چه مرغئی دی.تورځادرونه به ئی په خپل ځان اچول(۳)کله چه دزهری رحمه الله نه سوال اوشو چه وینځې هم څادرونه اچوی که دخاوندانووالاوی اوکه بغیردخاوندانووی.وئی فرمائیل چه لوښتې خودې ضرور اچوی که هغه دخاوندوالاوی اوڅادردې نه اچوی دې دپاره چه په هغوی کښې آزادو ښځوکښې فرق وی

کافرانوښځو ته د کتلودحرمت وجه:-دحضرت سفیان ثوری رحمه الله نه نقل دی چه د ذمی کافرانو ښځو ښائست کتل صرف دزناد ویرې په وجه سره منع دی. نه داچه دهغوی د حرمت اوعزت د وجه نه ځکه چه په آیت کښې دمؤمنانوښځو ذکردې.څادر رازورندول د آزادې اوپاک دامن ښځو نښه ده ځکه چه دوی به دڅادر د زورندولوسره به پیژندګلو کیږی چه دا نه خرابې ښځې دی اونه وینځې دی. د سدی رحمه الله قول دې فاسق خلق د شپې تیاره کښې په لاره تیریدونکو ښځو ته آوازونه کوی د دې دپاره دا نښه شوه چه د کور د ښځو اووینځونوکرانو وغیره ښځو کښې فرق اوشی او په دغه پاکوښځوباندې څوک څله کولاونه کړې شی. بیافرمائی چه د جاهلیت په زمانه کښې د بې پردګئی کوم رسم وو کله چه تاسو دالله ﷻ د دې حکم عمل کونکی جوړشئی نوالله تعالی به مو ټول تیرشوی خطاګانې معاف کړی او په تاسویه رحم اوکرم اوکړی. بیافرمائی که منافق خلق بدکاره خلق اود دښمنانو د دروغوخبرې الوزونکی اوس هم منع نه شواود حق طرفدار نه شو نو اې نبی ﷺ مونږ به تاپه هغوی باندې غالب اومسلط کړو بیاخو به هغوی په مدینه کښې حصارهم نه شی اوډیر زربه تباه کړې شی.اوکومې ورځې چه دهغوی په مدینه کښې دپاتې کیدو تیریږی هغه به هم په لعنت خواریدواوذلت کښې تیریږی.دهرطرف نه به رټلې شی ددربار نه به شړلې شوی وی کوم ځای چه لیدلې شی راګیرولې به شی.اوپه ډیره خرابه طریقه باندې به قتل کولې شی.پداسې کافرانواومنافقانوباندې کله چه هغوی دخپلې سرکشئی نه نه منع کیږی مسلمانانوته غلبه ورکول دازمونږزړه طریقه ده په کومه کښې چه نه څه بدلون شوې اونه به اوشی

يَسْـَٔلُكَ	النَّاسُ	عَنِ السَّاعَةِ ؕ	قُلْ	اِنَّمَا	عِلْمُهَا
تپوس کوی ستانه |	خلق	| په باره دقیامت کښې | ورته اووایه |	بیشکه |	علم دقیامت
دا خلق ستا نه دقیامت (دنیټې) په باره کښې تپوس کوی | ته ورته اووایه چې دهغې حال					
عِنْدَ اللّٰهِ ؕ	وَمَا يُدْرِيْكَ	لَعَلَّ السَّاعَةَ	تَكُوْنُ قَرِيْبًا ۝		
خاص دالله سره دې |	اوڅه خبر ئې ته |	کیدې شی چې قیامت |	وی	نزدې |	
(صرف) الله ﷻ ته معلوم دې | اوتاته څه معلومه ده ؟ کیدیشی چې قیامت ډیر زر رانزدې شی					

(۱) الطبری: ۳۲٤/۲۰.

(۲) الطبری: ۳۲۵/۲۰.

(۳) ابوداؤد کتاب اللباس باب فی قول الله تعالی ﴿یدنین علیهن من جلابیبهن﴾: ۳۱۰۱، وسنده حسن.

Scanned with Ca

إِنَّ اللّٰهَ	لَعَنَ	الْكٰفِرِيْنَ	وَأَعَدَّ	لَهُمْ
بیشکه چی الله	لعنت کړي دي	په کافرانو باندې	او تیار کړي ئې دي	دپاره دهغوئ
بیشکه الله ﷻ کافران د خپل رحمت نه لرې ساتلی دی				.....او هغوئ دپاره ئې
سَعِيْرًا ۝	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ	أَبَدًا ۚ	لَا يَجِدُوْنَ	وَلِيًّا
دغرغنډو وور	همیشه به وی	په هغې کښې	تل ترتله	نه به مومی	دوست
دلمبو اور تیار کړي دي	همیشه به په کښې پراته وی	هیڅوک به خپل یار یا مددګار بیا			
وَّلَا نَصِيْرًا ۝	يَوْمَ	تُقَلَّبُ	وُجُوْهُهُمْ	فِي النَّارِ
اونه	مددګار	په کومه ورځ	چې به اړولې کیږي	مخونه دهغوئ	په وور کښې
نه مومی	په کومه ورځ چې دهغوئ مخونه په دوزخ کښې اړولی راړولی شی				
يَقُوْلُوْنَ	يٰلَيْتَنَآ	أَطَعْنَا اللّٰهَ	وَأَطَعْنَا
وانی به هغوئ	کاش چی وی مونږه	چی حکم منلی وی مونږه دالله	او حکم منلی وی مونږه
نو دابه وائی چې ائې کاش ! که مونږ دالله ﷻ حکمونه منلی وی		اود رسول	
الرَّسُوْلَا ۝	وَقَالُوْا	رَبَّنَآ	إِنَّآ	أَطَعْنَا	سَادَتَنَا
درسول	او وائی به هغوئ	اے ربه زمونږه	بیشکه مونږه	خبرې اومنلي	دسردارانو زمونږه
خبره مو منلي وي	اودابه وائی چې ائې زمونږ ربه ! مونږ دخپلو سردارانو او مشرانو خبره منلي وه				
وَكُبَرَآءَنَا	فَأَضَلُّوْنَا	السَّبِيْلَا ۝	رَبَّنَآ	اٰتِهِمْ
او دمشرانوزمونږه	نو هغوئ بې لارې کړو مونږه	دنیغې لارې نه	اے ربه زمونږه	ورکړه دوئ ته
نو مونږ ئې د نیغې لارې نه بې لارې کړي وو				.....ائې زمونږه ربه ! هغوئ ته
ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ	وَالْعَنْهُمْ	لَعْنًا كَبِيْرًا ۝
دوچند	دعذاب نه	او لعنت اوکړه په دوئ	لعنت سخت
دوچنده سزا ورکړه			.....اولوئې لعنت پرې اووروه

قوله تعالی:- يَسْئَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ؕ

دقیامت قائمیدوعلم صرف الله ﷻ ته دي :خلق داکثرې چه قیامت به کله راځی د دې علم نبی کریم ﷺ ته دي دحضور ﷺ نه به ئې سوال کولو نوالله ﷻ ټولوته دخپل نبی ﷺ په ژبه اوخودل چه دهغه نبی ته بالکل علم نشته داصرف الله ﷻ ته معلومه ده. په سورت اعراف کښې هم دا بیان دي اوپه دې سورت کښې هم. اولنې سورت په مکه کښې نازل شوې وو اودا په مدینه کښې په کوم باندې چه ښکاره کړې شو چه دشروع نه ترآخره پورې دقیامت دصحیح وخت اندازه تاته معلوم نه وه.اودومره الله ﷻ تاسو بندیګانوته معلومه کړې وه چه د قیامت وخت نیزدې دي لکه چه بل آیت کښې دی ﴿اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ﴾ (۱) او

(۱) ٥٤/القمر: ١.

بل آیت کښې دی ﴿اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ۝﴾(۱) او ﴿اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ۝﴾ (۲) وغیره.

قوله تعالی:- اِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ

کافران دالله ﷻ د رحمت نه لرې دی:- الله ﷻ کافران د خپل رحمت نه لرې کړی دی په هغوی باندې خپل دهمیشه لعنت نازل کړې دې. دآخرت په کورکښې دهغوی د پاره دوزخ تیار دې چه ډیرشغلې وهونکې ځیز دې په کوم کښې چه به هغوی دهمیشه دپاره وی نه به چرې وتلې شی اونه به خلاصیدلې شی اونه به هلته څوک فریاد اوریدونکې وینې. نه به نی څوک دوست اوامدادی وی چه خلاص نی کړی یا بچ نی کړې شی. دوی به دوزخ کښې پرمخې اچولې شی. هغه وخت به ارمان کوی چه افسوس مونږ د الله ﷻ اودهغه د رسول ﷺ تابعدار وې. د قیامت په میدان کښې به هم دهغوی دغه ارزو وی. په لاسونوبه چکونه لګوی او وائی به چه افسوس مونږ په قرآن پاک باندې عمل کولو. افسوس چه مونږ فلانکې دوست نه وو جوړکړې. هغه خو مونږ د قرآن پاک اواحادیث رسول نه دهوکه کړو. په واقع کښې هم شیطان انسان ذلیل کونکې دې.

یوبل آیت کښې دی ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ۝﴾ (۳) ډیر زر به کافران خواهش کوی چه افسوس هغوی مسلمانان وو. هغه وخت به وائی چه ای الله مونږ دخپلوسردارانو اوخپلو علماؤ تابعداری کړې وه دامیرانواومشائخو پسې لګیدلې وودرسول ﷺ خلاف مو کول اودامو ګنړل چه زمونږ مشران په نیغه لاردی دوی سره حق دی. نن ثابته شوه چه په حقیقت کښې هغوی هیڅ هم نه وو. هغوی خو مونږ صرف دهوکه کړې یو. ای الله ته دوی ته ډبل عذاب ورکړه یود هغوی د خپل کفر اوبل زمونږ د بربادکولو اوپه دوی باندې ډیر خراب لعنت نازل کړې. په یوقراءت کښې ﴿کبیرا﴾ په بدله کښې ﴿کثیرا﴾ دې مطلب د دواړو یوشان دې.

بخاری اومسلم کښې دی حضرت ابوبکرصدیق ﷺ د رسول الله ﷺ نه د یوې داسې دعادرخواست اوکړو کومه چه هغه په مانځه کښې وائی نوحضوراکرم ﷺ دادعا وراوخودله ((اللهم انی ظلمت نفسی ظلما کثیرا وانه لایغفرالذنوب الاانت فاغفرلی مغفرة من عندك وارحمنی انك انت الغفور الرحیم))یعنی ای الله ماډیر ګناهونه کړی دی زه دامنم چه تانه بغیرداڅوک معاف کولې نه شی. نوته دخپلې ببنې نه ما اوببنه اوپه ماباندې رحم اوکړه ته ډیر ببنونکې اومهربان نی(۴) پدې حدیث کښې هم ﴿ظلما کثیرا اوکبیرا﴾ په دواړو لفظونو کښې چه کوم غواړې اختیارکړه. لکه په آیت کښې په دواړو قراءتونوکښې چه کوم غواړې لوستلې شې. خو دواړه جمع کولې نه شې. والله اعلم. د حضرت علي ﷺ یوملګری دهغوی مخالفینوته وئیل چه آیا تاسو به الله ﷻ له په تلوکښې داوائې ﴿رَبَّنَاۤ اِنَّاۤ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا۝﴾

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا	لَا تَكُوْنُوْا	كَالَّذِيْنَ	اٰذَوْا
اے هغه کسانو چې ایمان مو راوړې دی امۀ کیږئ تاسو اپشان دهغه کسانواچې هغوئ تکلیف رسولې وؤ			
اې مومنانو ! تاسو د هغه چا په شان مه کیږئ اچې موسی ﷺ ته ئې تکلیفونه			

---

۱) ۲۱/الانباء:۱.
۲) ۱۶/النحل:۱.
۳) ۱۵/الحجر:۲.
۴) صحیح بخاری کتاب الاذان باب الدعاء قبل السلام:۷۳٤، صحیح مسلم:۲۷۰۵، ترمذی:۳۵۳۱، ابن ماجه:۳۸۳۵،احمد: ٤/۱، ابن حبان:۱۹۷۶.

مُوْسٰى	فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ	مِمَّا	قَالُوْا ؕ	وَكَانَ
موسی ته	پس بري کړو هغه له الله	دهغه خبرو نه	چې کړي وي هغوئ	او وو هغه
ورکول	نو الله ﷻ هغه دخلقو دخبرو نه بری کړو		او هغه دالله ﷻ	
عِنْدَ اللّٰهِ	وَجِيْهًا ؕ ۶۹			
دالله سره	عزت والا			
په نیز ډیر عزت مند وو				

قوله تعالی:- اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا ؕ

دحضرت موسی علیه السلام یوه عجیبه واقعه اودموسی علیه السلام برات: صحیح بخاری شریف کښې حضرت موسی علیه السلام ډیر شرمیدونکي اوډیر لحاظ کونکي وو(۱) هم دامطلب دې دقرآن پاك ددې آیت. په کتاب التفسیر کښې خوامام صاحب رحمه الله داحدیث دومره مختصر راوړې دې خود احادیث انبیاء په بیان کښې دا ډیر اوږد راوړې دې. په دې کښې داهم دی چه د ډیر شرم اوحیا په وجه به ئی خپل بدن د چا په وړاندې نه برینډولو.بنی اسرائیل دهغوی په تکلیف ورکولوباندې وواودا خبره ئی مشهوره کړه چه دهغه په بدن باندې دبرص مرض داغونه دی یادهغه هګنی لونې شوی دی یاځه بل څه آفت دې په دې وجه دې دومره پرده کوی.دالله ﷻ اراده اوشوه چه دا بدګمانی دهغوی نه لرې کړی. یوه ورځ حضرت موسی علیه السلام خان له برینډ غسل کولو.په یوکانړی باندې هغوی کپړې ایخودې وې کله چه د غسل نه فارغ شو راغلو.کپړې ئی اخستې نو کانړې وړاندې اوخونیدو هغوی خپله همساواخسته اوهغه پسې روان شو. هغه په منډوشو هغه هم اې کانړیه اې کانړیه زما کپړې زماکپړې آوازکولوسره هغه پسې منډې وهلې. د بنی اسرائیلو یوه ګټړه هلته ناسته وه کله چه هغه دلته راورسیدو نودالله ﷻ په حکم سره کانړې اودریدو.هغه خپلې کپړې واچولې بنی اسرائیلو دهغوی ټول بدن اولیدلواوچه کومې کمې کوزې خبرې دهغوی په غوږونوکښې پریوتلې وې د هغې نه الله ﷻ خپل نبی پاك کړو. په غصه کښې حضرت موسی علیه السلام دری څلور یا پنځه لرګی هغه کانړې اووهلو. رسول الله ﷺ فرمائی والله د دې لرګی نښې په هغه کانړی باندې پریوتلې.هم د دې براءت وغیره ذکر په دې آیت کښې دی(۲) داحدیث مسلم کښې نشته دا روایت په نورو ډیرو سندونوسره په ډیروکتابونوکښې دې. بعضې روایتونه موقوف هم دی.

بله واقعه:- دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت دې یوخل حضرت موسی علیه السلام اوحضرت هارون علیه السلام غرته تلې وو. کوم ځائ چه د حضرت هارون علیه السلام وفات اوشو. خلقو د حضرت موسی علیه السلام د طرف نه بدګمانی شروع کړه اوهغه ئی تنګولو چه پروردګارعالم فرښتوته حکم اوکړواوهغوی هغه راوچت کړو اود بنی اسرائیلو په مجلس ئی تیرکړو الله ﷻ هغه له ژبه ورکړه او د خپل قدرتی مرګ څرګندونه ئی اوکړه. د هغه د قبر صحیح نشان نامعلوم دې. صرف د هغه غونډئی خلقوته علم دې اوهم هغه ځائ د هغوی د قبر په نوم یادیږی (۳) کیدی شی چه تکلیف هم دا وی اوکیدې شی چه هغه تکلیف وی دکوم ذکر چه اول شوې. خوزه وایم چه داهم کیدې شی چه دا اوهغه دواړه وی بلکه د دې نه علاوه نور هم تکلیفونه وی.

زمونږ بهٔ نبی کریم ﷺ باندې بهتان:- نبی کریم ﷺ یوخل په خلقو کښې څه تقسیم اوکړو په دې باندې یو سړی اووئیل په دې تقسیم سره دالله ﷻ درضامندئی اراده نه ده کړې شوې. حضرت عبدالله رضی الله عنه فرمائی چه ماکله داواوریده نو ما اووئیل اې د الله ﷻ دښمنه زه به ستا د دې خبرې خبر رسول الله ﷺ ته خامخا

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الاحزاب باب ﴿لاتکونوا کالذین اذوا موسی﴾:۴۷۹۶.
۲) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب نمبر:۲۸ حدیث :۳۴۰۴، صحیح مسلم:۳۳۹، بتصرف یسیر، ترمذی: ۳۲۲۱.
۳) حاکم: ۶۷۹/۲.

Scanned with Ca

رسوم.نوزه لاړم اورسول الله ﷺ ته مې خبراورسولو دحضوراکرم ﷺ مخ مبارك تك سور شواووئی فرمانیل دالله تعالی رحمت دې وی په موسی علیه السلام باندې د دې نه ورته ډیر زیات تکلیفونه ورکړې شوی وو خوصبرئی کړې وو(۱)یوبل روایت کښې دی درسول اکرم ﷺ عام ارشاد وو چه هیڅ څوك دې هم ماله د چاد طرف نه هیڅ خبره هم نه رارسوی.زه غواړم چه زه تاسوکښې راشم کینم نوچه زما په زړه کښې دچاخبره سخته نه لګی.یوځل څه مال حضور ﷺ له راغلوحضور ﷺ دا په خلقو کښې تقسیم کړو. دووکسانود دې نه پس په خپل مینځ کښې خبرې کولې.حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه هغوی سره تیریدلو. یوکس بل ته وئیل چه والله دې تقسیم سره نبی کریم ﷺ نه د الله ﷻ د خوشحالئی څه اراده کړې اونه د آخرت د کور. زه اودریدم اود دواړوخبرې مې اوریدې. بیاد رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم اومې وئیل چه تاسوخووئیلی چه د چاخبرې تاسوله نه راوړی.اوسنئی واقعه ده چه زه روان ووم د فلانکی اوفلانکی نه مې داخبرې واوریدې.ددې په اوریدوسره دحضور ﷺ مخ مبارك دغصې نه تك سور شواوپه هغوی باندې داخبره ډیره درنه پریوتله.بیائی زما طرف ته اوکتل وئی فرمانیل عبدالله پریږده.کوره موسی علیه السلام ته د دې نه هم زیات تکلیف ورکړې شو خوهغه صبراوکړو(۲) قرآن پاك فرمانی موسی علیه السلام د الله ﷻ په نیزد ډیرې لوئې مرتبې والا وو مستجاب الدعوات وو. کومه دعاچه به ئی کوله قبلیدله به. اود الله ﷻ دیدار نه وو ځکه چه داد انسانئ طاقت نه بهروه. د ټولونه زیات دهغوی د شان اوشوکت ثبوت ددې نه ملاویږی چه هغه دخپل رورحضرت هارون علیه السلام دپاره نبوت اوغوښتو.الله ﷻ هغه هم ورکړو. فرمائی ﴿وَوَهَبْنَا لَهُ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا﴾(۳) مونږ هغه له په خپل رحمت سره د هغه رور هارون علیه السلام نبی جوړکړو.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا اللّٰهَ	
اے هغه کسانو	چې ایمان مو راوړې دې	اویریږئ دالله نه	
.....ائې د ایمان خاوندانو ! دالله ﷻ نه اوویریږئی			
وَقُوْلُوْا	قَوْلًا سَدِيْدًا ۙ	يُّصْلِحْ	لَكُمْ	اَعْمَالَكُمْ
اووایئ	خبره	تیك	صحیح به کړی	تاسو لره	عملونه ستاسو
اوخبره پخه (اوریښتونې) کوئ	.....	الله ﷻ به ستاسو عملونه قابل د قبول کړی		
وَيَغْفِرْ	لَكُمْ	ذُنُوْبَكُمْ ؕ	وَمَنْ	يُّطِعِ اللّٰهَ
او معاف به کړی	تاسو لره	ګناهونه ستاسو	او هغه چاچې	اطاعت اوکړو دالله
اوستاسو ګناهونه به معاف کړی	.....	اوچاچې دالله ﷻ اودده		
وَرَسُوْلَهٗ	فَقَدْ فَازَ	فَوْزًا	عَظِيْمًا ۝	اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ
او درسول دهغه	نو کامیاب شو	په کامیابئ	لویې سره	بیشکه وړاند کړو مونږه دا امانت
د رسول ﷺ خبره اومنله	نو هغه ډیر زیات کامیاب شو	بیشکه مونږ اسمانونو زمکې		

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة الطائف فی شوال سنة ثمان:۴۳۳۵، صحیح مسلم:۱۰۶۲،احمد:۱/۲۳۵،ابن حبان:۲۹۱۷.

(۲) ابوداؤد کتاب الادب باب فی رفع الحدیث من المجلس:۴۸۶۰ مختصرًا.

(۳) ۱۹/مریم:۵۳.

عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا

اسمانونوته | او زمکې ته | اوغرونو ته | نو انکار اوکړو هغوئ | چې بار کړې دغه امانت |

او غرونو ته (دحکم منلو د ذمه وارنې اوچتولو) امانت پیش کړو | نو ټولو ددې (

وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا

اواویریدل | دهغې نه | او بار کړو هغې لره | انسان | بیشکه هغه | دې | ډیر ظالم |

غټې، ذمه ورانۍ دقبلولو نه انکار اوکړو | اوددې نه ویریدل | او صرف انسان وو چې ذمه واری ئې قبوله کړه | هغه

جَهُوْلًا ۙ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ

ډیر ناپوهه (غیر ذمه وار) | دپاره ددې چې عذاب ورکړی | الله | منافقانو سړو ته |

بیشکه ډیر ظالم اونادان دې | نو نتیجه ئې دا شوه | چې الله ﷻ منافقانو سړو

وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ

او منافقانو ښځو ته | او مشرکانو سړو ته | او مشرکانو ښځو ته | او توبه قبوله کړی الله |

اومنافقانو ښځو او مشرکانو سړو او مشرکانو ښځو ته سزا ورکوی | او دمومنانو

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

د مومنانو سړو | او دمومنانو ښځو | او دې الله | بښونکې | مهربانه |

سړو اودمومنانو ښځو توبه به قبوله کړی | اوالله ﷻ بښونکې مهربان دې

قوله تعالى:- وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝

مومن له نیغه خبره کول پکاردی:- الله ﷻ خپلومؤمنانوبندیګانوته دخپلې تقوی هدایت ورکوی هغوی ته فرمائی چه داسې دې د هغه عبادت کوی لکه چه هغه په خپلوسترګوباندې وینی اوخبره بالکل صفا نیغه رښتیااوښکلې کوی. کله چه هغوی په زړه کښې تقوی په ژبه صداقت اختیارکړی نود دې په بدله کښې الله ﷻ هغوی ته د نیکواعمالوتوفیق ورکوی اود هغوی به ټول ګناهونه معاف کړی. بلکه په راتلونکی وخت کښې به هم هغه له د استغفار توفیق ورکړی دې د پاره چه ګناه ئی باقی پاتې نه شی. د الله ﷻ اورسول الله ﷺ تابعدار اورښتونی کامیاب دی د دوزخ نه لرې اوپه جنت سره کامیاب دی. یوه ورځ دماسپښین د مانځه نه پس حضوراکرم ﷺ دسړوطرفته متوجه شو وئی فرمائیل ماته دالله ﷻ حکم شوې دې چه زه تاسو ته د الله ﷻ نه د ویریدلو اود نیغې خبرې کولوحکم درکړم. بیائی ښځو طرف ته توجه اوفرمائیله اوهم دانی اوفرمائیل. (ابن ابی حاتم) (۱)دابن ابی الدنیاکتاب التقوی کښې دی حضوراکرم ﷺ به همیشه په خطبه کښې داآیت تلاوت فرمائیلو خود دې سندغریب دې. د ابن عباس ﷺ قول دی د چاچه داخبره خوښه وی چه خلق دې دهغه عزت اوکړی هغه له دالله ﷻ نه ویریدل پکاردی.عکرمه رحمه الله فرمائی قول سدید لااله الا الله دې.خباب رحمه الله فرمائی رښتونې خبره قول سدید دې.مجاهد رحمه الله هره یوه نیغه خبره قول سدید دې.داټول په قول سدید کښې داخل دی.

قوله تعالى:- اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د الله ﷻ د امانت نه څومره مراد دی؟:- دحضرت ابن عباس ﷺ بیان دې چه د امانت نه مراد دلته اطاعت دې داپه حضرت آدم ﷺ باندې دپیش کولونه وراندې په زمکه آسمانونواوغرونوباندې پیش کړې شو

(۱) احمد:۳۹۱/٤مجمع الزوائد:۹۷/۷،

Scanned with Ca

خوهغوی د امانت بوج اوچت نه کړي شو اوخپله معذوری اومجبوری ئی ښکاره کړه.الله ﷻ اوس دا حضرت آدم ﷺ ته پیش کړو چه دا ټول انکاری شو اوس ته څه وائي.هغه تپوس اوکړو ای الله په دې کښې خبره څه ده؟ وئی فرمائیل که په ځائ دې راوړو نوثواب دې اوکه بدی دې اوکړه نوسزا به خوري. هغه وئیل زه تیاریم. د هغوی نه داهم روایت دې د امانت نه مراد فرائض دی. په نوروباندې چه کوم پیش کړي شوی وودا د حکم په توګه نه وو بلکه جواب ئی تري غوښتې وو نود هغوی انکار اظهار د مجبورئی ګناه نه وه. بلکه په دې کښې د یوقسم تعظیم وو چه سره د پوره طاقت د الله ﷻ د ویرې نه رڅیدل چه هسې نه پوره ئی نه کړي شو اواونه وهلې شو. خو انسان چه ساده وو هغه د امانت دا بوج په خوشحالئی خوشحالئی سره اوچت کړو(۱)هم دهغوی نه داهم روایت دې چه دمازیګروخت سره نیزدې ئی دا امانت اوچت کړي وو. اود مابنام نه وړاندې تري خطااوشوه(۲)د حضرت ابی ﷺ بیان دې چه د بنځې پاکدامنی هم د الله ﷻ امانت دې(۳) دقتاده ﷺ قول دې دین فرائض حدودټول دالله ﷻ امانت دې(٤)دجنابت غسل هم دبعضو په نیز امانت دې. زیدبن اسلم ﷺ فرمائی دري ځیزونه دالله ﷻ امانت دې دجنابت غسل، روژه اومونځ. مطلب دا چه دا ټول ځیزونه د الله ﷻ په امانت کښې داخل دی. ټول احکام په ځائ راوړل د ټولوممنوعاتونه ځان ساتلوباندې انسان مکلف دې څوک ئی چه په ځائ راوړی ثواب به مومی او کوم ځائ چه ګناه اوکړی سزا به خوری.امام حسن بصری ﷺ فرمائی خیال کوئی آسمان سره د دومره پوخوالی ښائست اود نیکانوفرښتود مسکن کیدو سره د الله ﷻ امانت برداشت نه کړي شو کله چه هغوی دامعلومه کړه چه که په ځائی رانوړل نو عذاب به وی. زمکې د صلاحیت او سختوالی اوړدوالی پلنوالی اوویریدله اوخپله عاجزی ښکاره کړه. غرسره د خپل اوچتولی طاقت او سختوالی دې نه اوړچیدو اوخپله کمزوری ئی ښکاره کړه.

اول اسمان ، بیا زمکې او بیا غرونو عجز ښکاره کړي وو:- مقاتل ﷺ فرمائی اول آسمان جواب ورکړو اووئی وئیل چه هسې خو مونږ تابعداریوخودا زمونږ دوس خبره نه ده ځکه چه د نه پوره کولوپه صورت کښې خطره ډیره زیاته ده. بیائی زمکې ته اووئیل چه که پوره دې کړو نو ډیرفضل اوکرم به درباندې اوکړم. خو هغې وئیل چه هسې خو هرقسم تابعداره یم خودا چه اووئیلې شو عمل اوکړه نودا زما د وسعت نه بهر دی.بیاغرونوته اووئیلې شوهغوی هم جواب ورکړو چه نافرمانی خومونږ کولې نه شو که امانت دې راباندې واچولو اوچت به ئی کړو خو دا زمونږ د وس کار هم نه دې. مونږ معاف کړه.

ادم ﷺ قبول کړو:- بیاحضرت آدم ﷺ ته اووئیلې شوهغه وئیل ای الله که پوره مې کړو نوڅه به راکوې؟ وئی فرمائیل لویه بزرګی اوجنت به ملاویږي رحم اوکرم به وی. اوکه پوره تابعداری اونه کړي شوه او نافرمانې دې اوکړه سخته سزا به وی اوپه اور کښې به واچولې شي. هغه وئیل ای الله ﷻ منظور ده. مجاهد ﷺ فرمائی چه ما ستورولە ځائ ورکړو فرښتې مې اوچتې کړې خودا نه شم اوچتولې. داخود فرائضوتحمل دې د کوم چه ماکښې طاقت نشته. زمکې وئیل په ما کښې دې وني اوکرلې دریابونه دې جاری کړل خلق دې آبادکړل. خودا امانت زماد وس کار نه دې. زه د فرضو پابندکیدوسره د ثواب په امیدباندې د عذاب احتمال نه شم اوچتولې. غرونوهم دغه اووئیل. خو انسان دا په ټوپ وهلوسره قبول کړل. بعضې روایاتوکښې دی چه تردریوورځوپوری دا سوال زاری کیدله اوخپله بې وسی ئی خودله.خوانسان دا په خپل سرباندې واخستل. الله ﷻ هغه ته اوفرمائیل اوس واوره که ته نیک نیتې

---

۱) الطبری: ۲۰/۳۳۷.
۲) حاکم:۲/٤۲۲وسنده حسن.
۳) الطبری: ۲۰/۳۳۸،حاکم:۲/٤۲۲.
٤) الطبری: ۲۰/۳۳۹.

وي نوزماامدادبه همیشه تاسره وی.ستاپه سترګوباندې زه دوه بنړې (دسترګو وینښته) کوم زما د خفګان دځیزونونه ته دا رابندوه.زه ستاپه خُله باندې دوه شوندې جوړوم کله چه هغه زمادمرضئی خلاف خبرې کول غواړی ته دابندوه. ستا د شرمګاه د حفاظت د پاره زه جامې درلیګم زماد مرضئی خلاف ته دامه کولاووه.زمکې اوآسمان د ثواب اوعذاب نه انکاراوکړو اوپه فرمانبردارئی کښې مسخر پاتې شو خو انسان دا اوچت کړل.په یوبالکل غریب مرفوع حدیث کښې دی امانت او وفا په انسان باندې د نبیانو معرفت نازل شو د الله ﷻ کلام دهغوی په ژبوکښې نازل شو د نبیانو په طریقوسره هغوی هر نیك او بد معلوم کړو.د هرسړی نیکی او بدی ورته معلومه شوه. یادساتئی د ټولونه اول په خلقو کښې امانتداری وه.بیادوفا اووعدې ساتلوذمه واری پوره کول وو.دامانتدارئی تت غوندې نشان دخلقو په زړونو باندې پاتې شو.کتابونه دهغوی په لاسونوکښې دی.عالم عمل کوی اوجاهل پوهیږی خو ځان ئی ناجاړه کړې دې.اوس دا امانت اووفا ماته اوزما امت ته راورسیده یادساتئی چه الله ﷻ هم هغه هلاك کوی چه خپل ځان په خپله هلاك کړی. دا پریږدی اوپه غفلت کښې پریوځی. خلقو هوښیار اوسئی ګورئی خیال کوئی د شیطانی وسوسونه بچ اوسئی. الله ﷻ تاسو ازمیښت کوی چه په تاسو کښې د نیکواعمالووالاڅوك دې.حضوراکرم ﷺ فرمائی چه کوم سړې سره د ایمان نه دا ځیزونه راوړی جنت ته به ځی. پنځه وخته د مونځ حفاظت کونکې وی اودس رکوع سجده اود وخت سره زکوة ادا کوی د زړه په خوشحالئی سره د زکوة پیسې راوباسی. واورئی والله دا بغیرد ایمان نه نه شی کیدې. او امانت ادا کوئی.

د امامت د ادا کولو مطلب:- دحضرت ابوالدرداء ﷺ نه تپوس اوشوچه د امانت ادائیګئی څه مراد دې؟ وئی فرمائیل د جنابت غسل. نو الله ﷻ بنیادم باندې پهخپل دین کښې د یوځیزدې نه علاوه امانت نه دې ورکړې[1] تفسیر ابن جریرکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د الله ﷻ دلارې قتل ټول ګناهونه معاف کوی.ولې دامانت خیانت نه ختموی.دې خیانت کونکوته به دقیامت په ورځ وئیلې شی لارشئی د هغوی امانتونه اداکړئی. دوی به جواب ورکړی ای الله د کوم ځائ نه ئی اداکړو؟ دنیاخولاړه درې ځل به داسوال اوجواب کولې شی. بیا به حکم کولې شی چه دوی د دوی مورهاویه له بوځئی فرښتې به ورله دیکې ورکوی راګذاربه ئی کړی. تردې چه هغوی به د دې بیخ ته اورسی نودوی ته به هم د دې امانت په شکل کښې د دوزخ اور په نظر راشی دوی به داواخلی پاس به راخیژی.کله چه غاړې له راورسی نوپښه به ئی اوخونیږی بیابه ورپریوځی اود دوزخ لاندې پوری به راګذارشی. بیابه ئی راولی اوبیابه ورپریوځی .همیشه به په دې عذاب کښې وی.امانت په اودس کښې هم شته اوپه مانځه کښې هم.امانت په خبرو اتروکښې هم دې اود دې ټولونه زیات امانت په دې ځیزونوکښې دې چه چاسره د امانت په توګه کیخودې شی.

د حضرت براء ﷺ نه سوال کولې شی چه دا ستارور عبدالله بن مسعود ﷺ څنګه حدیث بیانوی؟ نوهغه دده تصدیق کوی چه اوتیك دې[2] دحضرت حذیفه ﷺ نه روایت دې چه د رسول الله ﷺ نه مادوه احادیث اوریدلی دی. یوخو ما په خپلو سترګو باندې اولیدل اود دویم دښکاره کیدو انتظار دې. یو خو دا چه هغوی اوفرمائیل امانت دخلقو په جبلت کښې نازل شوې. بیا قرآن نازل شو بیااحادیث بیان شو بیا حضور ﷺ د امانت د اوچتیدو باره کښې اوفرمائیل انسان به اوده شی چه دهغه دزړه نه به امانت اوچت کړې شی اوداسې ننبه به ئی پاتې شی لکه چه په پښه باندې چرته داور سروتکه راپریوځی.داسې به خلق لین دین اواخستل اوخرڅول کوی.خو تقریبا یوکس به هم ایماندار نه وی. تردې چه مشهوره به

---

[1] ابوداؤد کتاب الصلاة بالمحافظة علی الصلوات:۴۲۹،مجمع الزوائد:۱/۴۷،.

[2] الطبری:۲۰/۳۴۰وسنده ضعیف بطوله واصل الحدیث سنده حسن.

Scanned with Ca

شی چه فلانکی قبیله کښې امانتداري اوتردي پوري به وئیلې شی چه داسې څومره عقل منډ څومره هوښیار اود فراست والا دې سره د دې چه دهغه په زړه کښې به د اوری د دانې برابر هم ایمان نه وی. حضرت حذیفه ﷺ فرمانی چه د دې نه وړاندې خو به ما هریوسره قرض دار کولو ځکه چه که مسلمان وی نوهغه به ماله خپل حق پخپله راکړی اوکه یهودی نصرانی دې نواسلامي حکومت به نی ماله راکوی. خواوس صرف فلانکی فلانکی ته قرض ورکوم باقی مې بند کړې دي. (۱)

څلور خبرې:- مسنداحمدکښې د رسول الله ﷺ فرمان دې څلورخبرې چه په تاسو کښې وی بیاکه ټوله دنیا هم وفات شی نوتاته هیڅ نقصان نشته. د امانت حفاظت او د خبرو اترو صداقت حسن اخلاق او حلال رزق. (۲)

د امانت قسم خوړل:- دحضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله کتاب الزهدکښې دی جبله بن سحیم حضرت زیاد سره وو اتفاقی د هغوی د خُلې نه په خبروکښې دا اووتل قسم دې د امانت په دې باندې حضرت زیاد رحمه الله په ژړا شو اوډیر نی اوژړل. زه اوویریدم چه مانه چرته لویه ګناه اوشوه. ماوئیل څه هغه دا مکروه ګنړل؟وئی فرمائیل اوحضرت عمر بن خطاب ﷺ خوبه دادیرمکروه ګنړلو اود دې به نی منع فرمانیله. ابوداؤد کښې دي رسول الله فرمائی هغه زمونږ نه نه دي څوک چه د امانت قسم اوخوری(۳) امانت داری کوم چه حضرت آدم علیه السلام اوکړو د دې به دانتیجه وی چه منافق ښځې اوسړې او مشرک ښځې اوسړی یعنی هغه چه په ظاهره مسلمان اوپه باطن کښې کافر وو اوهغه چه دننه اوبهر ټول کافر دی هغوی ته خویه سخته سزا ملاویږی اوپه مؤمنانو ښځو اوسړو باندې به دالله ﷻ رحمت نازل شی. څوک چه الله ﷻ اودهغه فرښتې اودهغه رسولان منی اودالله ﷻ رښتونی فرمان برداروی الله ﷻ ببنونکې اومهربان دي.

﴿الحمدلله﴾ د سورت احزاب تفسیر ختم شو.

آیاتونه		سورة سبا مكية وهي اربع وخمسون اٰية وست ركوعات		ركوع ګاني
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۵۴		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دي		۶
اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	الَّذِيْ	لَهٗ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا
ټوله ثناء	الله لره ده	هغه الله	چې هغه لره دی	هغه څه	چې په آسمانونو کښې دی	او هغه څه
ټول تعریفونه صرف یو الله ﷻ لره دی			اچې دهر هغه څه مالک دې		چې په آسمانونو	
فِي الْاَرْضِ	وَلَهُ الْحَمْدُ		فِي الْاٰخِرَةِ ؕ		وَهُوَ الْحَكِيْمُ	
چې په زمکه کښې دی	او هغه لره ده ثنا		په آخرت کښې (هم)		او هغه خاوند دحکمت دې	
اوزمکه کښې دی	په دنیا او آخرت کښې ټول تعریفونه هغه لره دی				اوهغه صاحب دحکمت اوپه	

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب رفع الامانة:٦٤٩٧، صحیح مسلم:١٤٣، ترمذی:٢١٧٩، ابن ماجه:٢٠٥٣، احمد:٥/٣٨٣، ابن حبان:٦٧٦٢، بیهقی: ١٠/١٢٢.

(۲) احمد:٢/١٧٧

(۳) ابوداؤد کتاب الایمان والنذور باب کراهیة الحلف بالامانة: ٣٢٥٣، وسنده صحیح، ابن حبان: ١٣١٨، احمد:٥/٣٥٢.

Scanned with Ca

الْخَبِيْرُ ① يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ
او خبردار دي	معلوم دی هغه ته	هغه څه	چی ننوځی	په زمکه کښی	او هغه	چی راوزی	
هر څه خبر دي	هغه ته ټول معلوم دی	هر هغه څه کوم چې زمکه کښې ورننوځی	اوهر هغه څه کوم
مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ط
دهغې نه	او هغه	چی نازليږی	دآسمان نه	او هغه	چی خيژی	په هغې کښی	
چې تری بهر راوځی	اوکوم چې د آسمان نه راکوزيږی	او کوم چې آسمان ته خيژی
وَهُوَ الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ②
او هغه رحم کونکی	ښښونکی دي	
اوهغه ډير رحم کونکی ډير زيات ښښونکی دي	

قوله تعالى:- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ

ټول تعريفونه هم د الله ﷻ د پاره دی:- ددنياواوآخرت ټول نعمتونه اورحمتونه دالله تعالی د طرف نه دی.دټولوحکومتونوحاکم هم هغه يودي. د دې د پاره دهرقسم اوهريو تعريف اوثنا مستحق هم هغه دي. هم هغه معبوددي اودهغه نه بغيربل څوك دعبادت لائق نشته.هم دهغه دپاره ددنياواوآخرت حمد او ثنا ضروری ده او هم د هغه حکومت دي اوهم د هغه طرف ته به ټول واپس کولې شی. په زمکه او آسمان کښې چه څه دي ټول د هغه ماتحت دی څومره چه هم دی ټول د هغه غلامان دی. هم د هغه په قبضه کښې دی. په ټولوباندې تصرف هم دهغه دي. لکه چه بل آيت کښې دی ﴿وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى ۝﴾ (۱) په آخرت کښې به هم د هغه تعريفونه وی. هغه په خپلو ټولوافعالو اقوالواوتقدير ټولوکښې دحکمت والا دي اوداسې خبردار دي چه د هغه نه هيڅ يو څيز پټ نه دي د چانه چه يوه ذره پټه نه ده څوك چه په خپلواحکاموکښې حکيم څوك چه دخپل مخلوق نه خبردارځومره څاځکی چه دآسمان نه د باران زمکې ته څی څومره داني چه په هغې کښې کرلې شی دهغه دعلم نه بهرنه دی. کوم چه د زمکې نه راټوکيږی راوځی هغه هم هغه پيژنی دهغه دمحيط وسيع اوبې حسابه علم نه يوځيز هم لرې نه دي. د هر يوځيز شمير کيفيت اوصفت هغه ته معلوم دي. دآسمان نه چه کوم باران راوريږی د هغې د څاځکو شمير هم د هغه په علم کښې محفوظ دي. کوم رزق چه دهغه څائ نه راکوزيږی.دهغه په علم سره چه کوم نيك اعمال پورته آسمان ته خيژی هغه هم د هغه په علم کښې دی.هغه په خپلو بنديګانوباندې پخپله د دې نه هم زيات مهربان دي په دي وجه د هغوی د ګناهونونه دخبريدوسره هغوی له زرسزا نه ورکوی بلکه مهلت ورکوی چه هغوی توبه اوباسی اوبدی پريږدی د رب طرف ته رجوع اوکړی. بياغفوردي ديخوا بنده ټيټ شو وئی ژړل ديخوائی ښښنه اوکړه معاف ئی کړو توبه کونکې رټلې نه شی توکل کونکې نقصان نه شی اوچتولې.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَأْتِيْنَا
	اووائی	هغه کسان	چی کافران دی	ولې نه راځی مونږ ته	
	او کافران وائی چې په مونږ به

(۱) ۹۲/اللیل:۱۳.

السَّاعَةُ ط قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ لا

قیامت | ورته اووایه | چی هو | قسم دي په رب زما | چی خامخا به راځی تاسو ته |

دقیامت نه راځی | (ائي پیغمبره) ته ورته اووایه چي ولي به نه راځی ؟ | زما دي په رب قسم وی

عٰلِمِ الْغَيْبِ ج لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ

چی عالم دي په غیب باندي | نۀ پټیږی | دهغه نه | په اندازه | دیوي ذري | په اسمانونو کښی |

چي په غیبو عالم دي | چي خامخا به راځی | د هغه نه په زمکه او اسمانونو کښي یوه ذره هم پټه نه ده |

وَلَا فِي الْاَرْضِ وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ

اونۀ په زمکه کښی | او نۀ وړوکي | دهغي نه | اونۀ لوئ | مګر دی | په یو کتاب |

..... اوددي (ذري) نه وړوکي اونه تري نه غټ څیز | خودا ټول هرڅه په یو ښکاره کتاب

مُّبِيْنٍ ۙ لِّيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ښکاره کښی | دپاره ددي چی بدله ورکړی الله | هغه کسانوته | چی ایمان ئي راوړي دي |

(لوح محفوظ) کښي درج دی | د دي دپاره چي الله ﷻ هغه مومنانو ته اجر ورکړی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ط اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝

او عملونه کوی نیك | دا کسان چی دی | ده دپاره ددوئ | ببښانه | او رزق | عزتمند |

څوک چي نیک کارونه کوی | هم داهغه خلق دی | چي دوئ دپاره مغفرت او دعزت روزی ده

وَالَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ

او هغه کسان | چی کوشش کوی | په ایتونو زمونږ کښی | چی شکست ورکونکی دی هغي لره |

اودا هغه خلق دي کوم چي زمونږ د ایتونو د ناکامه کولو کوشش کوی | هغوئ

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ۝ وَيَرَى الَّذِيْنَ

دا کسان چی دی | دي دپاره ددوئ | عذاب | دعذاب دردناك نه | اووینی هغه کسان

ته به د (رنګ په رنګ) سختو نه ډک دردناک عذاب ورکولي شی | اوکومو خلقو

اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ

چي ورکړي شوي دي هغوئ ته علم | چی هغه کتاب | چی نازل کړي شوي دي | تاته | دطرفه درب ستا نه

ته چي علم ورکړي شوي دي | هغوئ پوهیږی چي کوم (کتاب) ستا د رب دطرفه په تانازل شوي دي

هُوَ الْحَقَّ لا وَيَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۝

چی هغه حق دي | او ښودنه کوی | لاري ته | دغالب | او ستائیلي شوی خدائي |

هغه رښتونې دي | اودا کتاب (خلقو ته) د غالب اودتعریفو لائق الله ﷻ لار ښائی |

قوله تعالی:- وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

قیامت حق دي اوپه دي باندي دالله ﷻ دخپل ذات قسم :پوره قرآن پاك کښي دري آیاتونه دی چه کوم کښي چه دقیامت په راتلوباندي قسم خورلوسره بیان فرمائیلي شوي دي.یوخوسورت یونس ﴿وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ

قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ﴿۵۳﴾ (۱) خلق تانه تپوس کوی چه آیاد قیامت راتلل حق دی؟ ته دوی ته اووایه او او زمادرب قسم هغه یقینا حق دي اوتاسوالله تعالی مغلوب کولي نه شئی. دویم آیت هم دادي. اودریم آیت په سورت تغابن کښي ﴿زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ﴿۷﴾ (۲) یعنی د کافرانو دا خیال دي چه هغوی به د قیامت په ورځ نه شی را اوچتولي ته ورته اووایه چه اوزمادرب قسم تاسوبه خامخا را اوچتولي شئی. بیابه تاسو ته دخپلو اعمالوخبر درکړي شی اوداخو الله ﷻ ته ډیرآسان دی.نودلته ئی هم دکافرانوانکارد قیامت نه ذکر کړوخپل نبی ﷺ ته ئی دهغي قسمیه جواب اوخودلو بیاد دي نورتاکید کولو سره فرمائی چه هغه الله ﷻ چه عالم الغیب دي دچانه چه یوه ذره پټه نه ده هرځه د هغه په علم کښي دی سره د دي که هډوکی سخا شی د هغي ذرې ګډي وډي شی. خوهغه چرته دی؟څومره دی؟تول هغه پیژنی. هغه د دي تولو په راجمع کولوباندي قادر دي لکه څنګه چه ئی اول پیداکړی دی هغه د هریوځیز پیژندونکي دي اوتول ځیزونه هغه سره د هغه په کتاب کښي لیکلي شوی دی. بیا ئی د قیامت د راتلو حکمت بیان کړو چه ایماندارانو ته به د هغوی دنیکئی بدله ملاویږی هغوی له به مغفرت اورزق کریم ورکولي شی. اوچاچه د الله ﷻ د خبرو نه ضد اوکړو درسولانو ئی اونه منل ډیر خرابي اوسختي سزاګاني به وی.نیکان مؤمنان به بدله او بدکاره کافران به سزا خوری. لکه چه فرمائی دوزخیان او جنتیان یوشان نه دی. جنتی کامیاب او مقصد حاصلونکی دی.

قوله تعالی:-لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۚ

د قیامت راتلو کښي حکمت:- یوبل آیت کښي دی ﴿أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ﴿۲۸﴾ (۳) یعنی مؤمن اومفسد متقی او فاجر برابر نه دی. بیانی د قیامت یوبل حکمت بیان کړوچه ایماندار به هم دقیامت په ورځ دنیکانو بدله اودبدانوسزا ګوری نودعلم القین نه به عین الیقین حاصل کړی اوهغه وخت به وائی زمونږ د رب رسول ﷺ مونږ له حق راوړی وو.هغه وخت به وئیلي شی چه داده هغه وعده کومه چه رحمن کړي وه اورسولانو رښتیا رښتیا وئیلي وو.الله ﷻ خولیکلي ووچه تاسو به دقیامته پوري اوسیږئی نواوس دقیامت هغه ورځ راغله اوالله تعالی عزیز دي. یعنی اوچت د عزتونووالا دلوئ حکومت والا ډیرعزت والا دپوره غلبي والا نه په هغه د چا وس اونه د چازور هریوځیز دهغه په وړاندي ښکته اوعاجز.هغه د تعریف قابل دي پخپلو اقوالو افعالوشرع او فعل کښي دي تولو کښي دهغه تول مخلوق د هغه ثناخوان دي. جل وعلا.

وَقَالَ الَّذِينَ	كَفَرُوا	هَلْ نَدُلُّكُمْ	عَلَىٰ رَجُلٍ	يُنَبِّئُكُمْ
اووائی هغه کسان اچی کفر ئی کړي دي	ایا مونږه او ښایو تاسو ته	ایوداسي سړي اچی خبردرکوی تاسو ته		
اوکافران (یوبل ته) اووئیل	چي راشئ چي داسي سړي درته اوښایو	چي هغه درته داخبردرکوی		
إِذَا	مُزِّقْتُمْ	كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ	إِنَّكُمْ	لَفِي خَلْقٍ
کله چي	ذري ذري کړي شئ تاسو	په کامل ذره کیدوسره	نو بیشکه تاسو به	خامخا په پیداوښت
چي په څه وخت کښي به تاسو ریزه ریزه شئ	نوبیا به تاسو دوباره راپیدا کولي شئ			

(۱) ۱۰/یونس:۵۳.
(۲) ٦٤/التغابن:۷.
(۳) ۳۸/ص:۲۸.

Scanned with Ca

جَدِيْدٍ ۚ ۷	اَفْتَرٰى	عَلَى اللّٰهِ	كَذِبًا	اَمْ بِهٖ
نوی کښی (بیا راپیدا شئ)	معلومه نه ده چی ایا تړی	په الله پوری	دروغ	یا په ده
.....ایا ده په الله ﷻ باندې دروغ جوړ کړی دی	اوکه لیونې شوې دې			
جِنَّةٌ ؕ	بَلِ الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِالْاٰخِرَةِ	فِي الْعَذَابِ
لیونتوب دې	نه بلکه هغه کسان	چی ایمان نه راوړی	په اخرت باندې	په عذاب کښی به وی
(په دې کښې یوه هم) نه ده	بلکه کوم خلق چې په اخرت یقین نه ساتی	هغوئ په عذاب کښې اوپه		
وَالضَّلٰلِ	الْبَعِيْدِ ۸	اَفَلَمْ يَرَوْا	اِلٰى مَا	بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ
او په ګمراهئ	لرې کښی دی	ایا نه ګوری دوئ	هغې ته	چی مخکښی ددوئ دې
اوږده ګمراهئ کښې پراته دی	ایا دوئ آسمان او زمکې ته نه دی کتلی			
وَمَا	خَلْفَهُمْ	مِّنَ السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ ؕ	اِنْ نَّشَاْ
اوهغې ته	اچی روستو ددوئ دې	د آسمان نه	اودزمکې نه	اکه مونږه اوغواړو
چې ددوئ نه وړاندې او روستو خواره شوی دی	که چرې مونږ اوغواړو نو دوئ به			
نَخْسِفْ	بِهِمُ	الْاَرْضَ	اَوْ نُسْقِطْ	عَلَيْهِمْ
انوډوبه به کړو	دوئ	په زمکه	یا به رااوغورزوو	په دوئ باندې
په زمکه کښې ښخ کړو	یا به په دوئ د آسمان نه ټکړه راوغورزوو			
كِسَفًا	مِّنَ السَّمَآءِ ؕ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً
یوه ټوټه	د آسمان نه	بیشکه	په دې کښی	خامخانښه ده
دپاره	دهر بنده	ارجوع کونکی		
بیشکه په دې کښې دهغه بنده دپاره دعبرت ننبه ده چې الله ﷻ طرفته رجوع کوی				
لِّكُلِّ عَبْدٍ	مُّنِيْبٍ ۹			

قوله تعالی:- وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ

په بیاراپاسیدوباندې دکافرانو ټوقې: کافران اوملحدان چه د قیامت راتلل محال ګڼړی اوپه دې باندې به ئې د الله ﷻ دنبی ﷺ پورې ټوقې کولې. دهغوی دکفریه کلماتو ذکرکولې شی چه هغوی به په خپل مینځ کښې وئیل واورئی په مونږ کښې یوصاحب دې چه فرمائی چه کله مړه شو اوخاورې شو اوچوری چوری اوذره ذره شو د هغې نه پس به مونږ راژوندی کولې شو نوددې سړی باره کښې خو دوه خیاله کیدې شی. یاخودا چه په ښه هوش سره هغه په قصدسره د الله ﷻ په ذمه یو دروغ وائی اوکوم چه هغه نه دی فرمانیلی دهغه طرف ته نسبت کولوسره وائی اوکه دا نه وی نود هغه دماغ خراب شوی دی لیونې دې بغیر سوچ اوفکر چه څه ئی په زړه کښې راغله په ژبه باندې وراوخیژول وئی وئیل.

قوله تعالی:- بَلِ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

د کافرانو د خبرې جواب او عقلی دلیل:- الله ﷻ هغوی ته جواب ورکوی چه دا دواړه خبرې نه دی. حضور اکرم ﷺ رښتونې دې نیك دې لارموندونکې هوښیار دې دباطنی اوظاهری بصیرت والا دې. خوپه دوی څه اوکړې شی چه دا منکر خلق اوجاهلان د ناپوهئی نه کاراخلی. اوپه غوراوفکرسره د خبرې بیخ ته د رسیدوکوشش نه کوی. یوانکارئی زده کړې دې چه هغه څائ په څائ اوبې ځایه استعمالوی. دکوم په وجه چه حق خبره او نیغه لاردهغوی نه پاتې شی اودیر لرې لاړشی اوځی. آیا دهغه په قدرت کښې تاسو

Scanned with Ca

څه کمي ګورئ چاچه محیط اسمان اوبسیط یعنی کولاوزمکه پیداکړه؟چرته چه څې نه داسمان سوري ختمیږی اونه د زمکې فرش.لکه چه ارشاد دې ﴿وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِأَيْدٍ وَّإِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ۝ وَالْأَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ۝﴾(۱) مونږ آسمان په خپلو لاسونوسره جوړکړو اومونږ د وسعت والا یو.زمکه هم مونږ خوره کړه اوهم مونږ ښه خورونکی یو.

دلته ئی هم اوفرمائیل چه وړاندې ګوره اوروستوګوره ته دغه شان ښی طرف ته نظر اوکړه او ګس طرف ته خیال اوکړه نوکولاوآسمان اوارته زمکه به په نظرراشی. د دومره لوئ مخلوق خالق په دومره زبردست قدرتونو باندې قادر آیا ستاسو په شان وړوکې مخلقو فناکولوسره بیا په راپیداکولوباندې قدرت نه لري؟ هغه خو قادر دې که غواړی نو تاسو به زمکه کښې ورخښې کړی یا به په تاسو آسمان رامات کړی یقیناستاسوظلم اوګناه هم د دې قابله ده. خود الله ﷻ حکم اومعافی ده چه هغه تاسو ته مهلت درکړې دی. په چاکښې چه عقل وی په چا کښې چه د لرې نه د کتلوماده وی په چاکښې چه د غور اوفکر کولو عادت وی په چاکښې چه د الله ﷻ طرف ته ټیټیدونکې طبیعت وی دچاپه سینه کښې چه زړه او په زړه کښې حکمت اوپه حکمت کښې نور وی نو هغه دا زبردست نښې لیدونه پس دهغه قادر مطلق اوخالق الله ﷻپه دې قدرت کښې هیڅ شك نه شی کولې چه د مرګ نه پس بیا راژوندی کیدل دی. د آسمانونو په شان تنبوان اود زمکو په شان فرش چه چا پیداکړی دی هغه ته د انسان پیداکول ګران دی؟ چا چه هډوکی غوښه اوخرمن په اول ځل پیداکړه هغه ته د سخاکیدواوذره ذره کیدونه اوشیندلې کیدو نه پس رایوځای کول راپاسول اوکینول څه ګران دی؟

هم دا ئی په بل آیت کښې اوفرمائیل ﴿ أَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰى أَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ۚ بَلٰى ۚ وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ۝﴾(۲) یعنی چاچه آسمانونه اوزمکې پیداکړې هغه د دوی په شان پیداکولوباندې قادر نه دې؟ بې شکه قادردې بل آیت کښې دی ﴿لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝﴾(۳) یعنی د انسانانو د پیدائش نه ډیرګران خود آسمانونواوزمکو پیدائش دې خواکثر خلق بې علمی کوی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا					
اوپه تحقیق ورکړې وو مونږه					
اوبیشکه مونږداؤد					
دَاوٗدَ	مِنَّا	فَضْلًا ؕ	يٰجِبَالُ	اَوِّبِيْ	مَعَهٗ	وَالطَّيْرَ ۚ
داود له	دطرفه خپل نه	فضل	اے غرونو	ایو کړئ آواز	دهغه سره	اومرغانو ته هم دا حکم دې
ته خپل نعمتونه ورکړی وو	او حکم مو کړې وو.چې،ائې غرونو داؤد ﷺ سره تسبیح لولئ					
وَاَلَنَّا	لَهُ	الْحَدِيْدَ ۝	اَنِ اعْمَلْ	سٰبِغٰتٍ	وَّقَدِّرْ
اونرمه کړه مونږه	دپاره دهغه	وسپنه	چې جوړوه	زغرې	او اندازه کوه
او مارغانو ته هم داحکم وو	اومونږ دهغه دپاره اوسپنه نرمه کړې وه	او حکم مو اوکړو	پوره پوره		

(۱) ۵۱/الذاریات:۴۷-۴۸.
(۲) ۳۶/یٰسٓ:۸۱.الخ
(۳) ۴۰/المؤمن:۵۷.

Scanned with Ca

فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ
په اوودلو کښې او عمل کوئ نيک بيشکه زۀ په هغه کارونو چې کوئ ئې تاسو
زغرې جوړوه اود کړو جوړولو اندازه مقرر کړئ اوښه عملونه کوئ بيشکه زه ستاسو عملونه
بَصِيرٌ ﴿١١﴾
ليدونکې يم
وينم کورم

قوله تعالى:- وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُدَ مِنَّا فَضْلًا ۖ

د حضرت داوٗد ﷺ فضيلت:- الله ﷻ بيان فرمائى چه هغه په خپل بنده اورسول حضرت داوٗد ﷺ باندې دنياوى اواخروى رحمت نازل کړو نبوت ئى هم ورکړو بادشاهى ئى هم ورکړه لښکرې سامانونه طاقت او قوت ئى هم ورکړوبيائى يوه پاکه معجزه داهم ورکړه يوطرف ته د حضرت داوٗد ﷺ د الله ﷻ ذکر په خوږ آوازسره شروع کړو نوبل خوامرغئى اوغرونه هم په وجدکښې راغله. غرونو هم په آوازسره آواز ملاو کړو اودالله تعالى حمداوثنائى شروع کړه. مرغوخپلې وزرې خوزول پريخودل اوپه قسم قسم ښکلې ښکلې آوازونو کښې د خپل رب د وحدانيت سندرې وئيل شروع کړې. په صحيح حديث کښې دى چه دشپې حضرت ابوموسى اشعرى ﷺ د قرآن پاک تلاوت کولود کوم په اوريدوچه د الله ﷻ رسول ﷺ اودريدو. د ډيروخت پورې اوريدو بيا ئى اوفرمائيل ده ته د حضرت داوٗد ﷺ د آواز څه حصه ملاوشوې[1] د ابوعثمان نهدى رحمه الله بيان دې والله مونږ د حضرت ابوموسى ﷺ د آواز نه خوږ آواز چرته دباجې هم نه دې اوريدلې. **﴿اوبى﴾** معنى په حبشى ژبه کښې داده چه تسبيح بيان کړه. خوزمونږ په نيز په دې کښې د نور غورهم ضرورت دې. د عربوپه لغت کښې دا لفظ د ترجيع په معنى کښې موجود دې نوغرونو اومرغوته حکم کيږى چه هغوى دې د حضرت داوٗد ﷺ د آواز سره خپل آواز هم ملاوکړى. د تاويب يوه معنى د ورځې د تګ هم راځى.

لکه چه (سرى) معنى د شپې تګ ته وائى خودامعنى دلته څه ډير ښه مناسبت نه لرى دلته خو هم دا مطلب دې چه دحضرت داوٗد ﷺ دتسبيح په آواز کښې تاسو هم خپل آواز ملاوکړئ اوپه خوش آوازنى سره درب حمد بيان کړئ.اوپه هغه باندې دافضل اوشو چه دهغه دپاره اوسپنه نرمه کړې شوه. نه هغه ته اوسپنه په بهټئى کښې د اچولوضرورت اونه په ستګونوباندې دوهلوضرورت. په لاس کښې راتلوسره به داسې شوه لکه تار[2] اوس به د دې اوسپنې نه د الله ﷻ په حکم پخپله زغرې جوړولې بلکه داهم وئيلى شوى دى چه په دنياکښې د ټولونه اول زغره هم هغوى جوړه کړې وه[3] هره ورځ به ئى يوه زغره جوړوله اوپه شپږ زره درهمه به خرڅيدله. دوه زره به ئى د کور د خرچې دپاره کيخودلې څلور زره به ئى د خلقو په خوراک څښاک کښې خرچ کولې. د زغرې جوړولوترکيب پخپله الله ﷻ ورخودلې وو چه تيک تيک کړئى ساته او حلقې وړې مه ساته چه تيک نه کيږى ډيرې لوئې نه وى چه سستې شى. بلکه په ناپ تول اوپه صحيح اندازه باندې کړې اوحلقې وى.

د داوٗد ﷺ فرشتې سره ملاقات او دهغه نه تپوس:- يوځل الله ﷻ يوه فربښته په انسانى شکل کښې نازله کړه.دحضرت داوٗد ﷺ هغې سره ملاقات اوشو. نوچه څنګه به ئى د نورونه تپوس کولوهم داسې د هغه

---

[1] صحيح مسلم كتاب صلاة المسافرين باب استحباب تحسين الصوت بالقرآن:۷۹۳،احمد:۳۴۹/۵، بيهقى:۲۳۰/۱۰.
[2] الطبرى:۳۵۹/۲۰.
[3] الطبرى:۳۵۹/۲۰.

نه هم تپوس اوکړو. هغه وئیل چه داوٗد ﷺ خو ډیر ښه سړي دي خوکه یوه کمی په کښې نه وه نو کامل به وو. هغه په ډیر شوق سره تپوس اوکړوچه هغه څه؟ چه هغه خپل بوج دمسلمانانو په بیت المال باندې اچولې دي. پخپله هم د دي نه اخلی اوخپل بال بچ باندې هم د دي نه خوری. دحضرت داوٗد ﷺ په زړه کښې خبره کیناسته چه داسړی ټیك وائی.هم هغه وخت الله ﷻ ته ښکته شو او سوال اوزاری شروع کړه اودعائی اوکړه چه اې الله ماته څه داسې کارروزګار اوښائې په کوم سره چه زما خیټه ډکیږی ماته دڅه جوړولو چل اوښایه په کوم سره چه زه دومره حاصلوم چه هغه ماله اوزما بال بچ له کافی وی. الله ﷻ هغه ته زغرې جوړول اوخودل اوبیائی په خپل رحمت سره اوسپنه دهغه دپاره بالکل نرمه کړه. د ټولو نه اول زغرې هم هغه جوړې کړی دی.یوه زغره به نی جوړوله اوخرڅوله نودهغې گټه به نی درې حصې کوله.یوه حصه به نی دخپل خوراك ځښاك د پاره یوه د صدقه کولود پاره او یوه به نی پریخودله چه د دویمې زغرې جوړولو پورې دالله تعالی بند یگانوته ورکول.

د داوٗد ﷺ بې انتها خو اوازی:- حضرت داوٗد ﷺ ته ذکر ورکړې شوې وو هغه بې مثال وو د الله ﷻ کتاب لوستلو ته به کیناستو آواز وتلوسره به مرغئی ځناور څاوری غرونه اوکانړی هرڅه په وجد کښې راتلل اوهریوڅیز به په سکون او صبرسره د محویت په عالم کښې دهغوی په آواز ٔسره اثراخستونکې جوړیدواوپه کتاب الله کښې به مشغول شو. شیطانانو ټولې باجې د حضرت داوٗد ﷺ د ذکر نه ویستې دی.دهغوی دبې مثاله خوږ آواز دا ټول ځیزونه نقلونه دی.خپل دا نعمت بیانولو سره حکم ورکوی اوس تاسوله هم پکاردی چه نیك عمل اوکړئی زما د فرمان خلاف اونه کړئی. داډیره خرابه خبره ده چه د چا دومره بې حسابه احسان وی اود هغه حکم منل پریږدی زه ستاسو د عملونوساتندونکې یم ستاسوهیڅ یو عمل لوئ وړوکې نیك اوبدمانه پټ نه دي.

وَلِسُلَيْمٰنَ	الرِّيْحَ	غُدُوُّهَا	شَهْرٌ	
او دپاره دسلیمان	تابع کړه مونږه هوا	ادصبامزل دهغې هوا	ادیوې میاشتې هومره ووٗ	
اومونږ هوا د سلیمان ﷺ تابع کړې وه	چی سحر به ئې هم دمیاشتې هومره			
وَرَوَاحُهَا	شَهْرٌ ۚ	وَاَسَلْنَا	لَهٗ	عَيْنَ
او دمابنام مزل دهغې هوا	دمیاشتې دلارې هومره ووٗ	اواوبیوله مونږه	دپاره دهغه	چینه
مزل کولو	اودمابنام به ئې هم دمیاشتې هومره مزل کولو	اومونږ د هغه دپاره دویلې شوې تانبې چینه		
الْقِطْرِ ؕ	وَمِنَ الْجِنِّ	مَنْ	يَّعْمَلُ	
دویلی کړې شوی تانبې	او تابع کړل مونږه دهغه دپاره دپیریانو نه	هغه څوك	چی کار به ئې کووٗ	
جاری کړې وه	او بعضې پیریان داسې وو چې د هغه په وړاندې به ئې دالله ﷻ په حکم کار خدمت کولو			
بَيْنَ يَدَيْهِ	بِاِذْنِ رَبِّهٖ ؕ	وَمَنْ يَّزِغْ	مِنْهُمْ	عَنْ اَمْرِنَا
په مخکښې دهغه	په حکم درب خپل سره	او چاچی به مخ واړووٗ	دهغوئ نه	دحکم زمونږ نه
اوکه چرې په هغوی کښې به چا زمونږ دحکم (یعنی اطاعت دسلیمان) نه کوږ شو(نافرمانی اوکړه)				
نُذِقْهُ	مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝	يَعْمَلُوْنَ	لَهٗ	
نو څکووٗ به مونږ هغه ته	خوند دعذاب اوور	جوړول به هغوئ	دپاره دهغه	
نومونږ به هغه ته دجهنم د عذاب مزه اوڅکووٗ	دې پیریانو بهٔ د حضرت سلیمان ﷺ دپاره ددهٔ			

Scanned with Ca

مَا يَشَآءُ	مِنْ مَّحَارِيْبَ	وَتَمَاثِيْلَ	وَجِفَانٍ
هغه څيزونه چې غوښتل به هغه	دنګ دنګ محلونه	او تصويرونه	او لوئ لوښي
دمرضئ څيزونه جوړول الکه دنګ دنګ ځايونه	اوتصويرونه	او دتالاب غوندې لوئې لوئې خانکونه	
كَالْجَوَابِ	وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ	اِعْمَلُوْٓا	اٰلَ دَاوٗدَ ؕ شُكْرًا ؕ
پشان دتالاب	او ديګونه په يو ځائې پراته درانۀ	عمل کوئ	اے آل داود
دشکر			
اولوئې لوئې ديګونه اچې (هم په يوځائې به) پراته وو	ائې دداؤد ﷺ کورنئ (دالله ﷻ) شکراوباسئ		
وَقَلِيْلٌ	مِّنْ عِبَادِيَ	الشَّكُوْرُ ۝	
او لږ دی	ادبندګانو زمانه	شکر ايستونکی	
او زما په بندګانو کښې شکر کونکی ډير کم دی			

قوله تعالى:- وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ

په حضرت سليمان ﷺ باندې د الله ﷻ انعامونه:- په حضرت داؤد ﷺ باندې چه کوم نعمتونه نازل کړی وودهغې بيان کولونه پس دهغه ځوئ حضرت سليمان ﷺ باندې چه کوم نعمتونه نازل کړی وو دهغې بيان کولې شی چه دهغه ديارہ ئی هوادحکم منونکې جوړه کړې وه.ديوره مياشتې فاصله به ئی سحر سحروهلې وه اودومره فاصله به ئی مابنام وهله.مثلاً ددمشق نه ئی تخت سره دفوج اوسامانونو راوالو زولواوپه لږ ساعت کښې اصطخر ته اورسولو چه دتيز سور د پاره هم د پوره مياشتې سفردې. دغه شان مابنام د هغه ځائ نه تخت والوتلو او هم مابنام کابل ته اورسيدو[1] دتانبې داوبو په شان الله ﷻ د هغوی دپاره چينې روانې کړې وې په کوم کارکښې په کومه طريقه اوپه کوم وخت کښې چه غوښتل بې دڅه تکليف نه اخلئی. دا تانبه هم د هغوی د وخت نه په کارکښې راغلې ده.دسدی رحمه الله قول دې چه تر دريوورځو پورې بهيدله.

د پيريانو او انسانانو قسمونه :- پيريان ئی د هغوی په ماتحتئی کړل.څه چه به هغوی غوښتل خپل وړاندې به ئی ترې کارونه اخستل. اوپه هغوی کښې چه به کوم يو پيری دحضرت سليمان ﷺ د حکم تابعداری نه کوله زر به ئی په اُور کښې سوزولو. ابن ابی حاتم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د پيريانو درې قسمه دی يود وزرو والا يو قسم د مار په شان اووائی چه دريم قسم هغه دې چه په سورلوباندې سوريږی کوزيږی وغيره. داحديث ډير غريب دې.د ابن انعم رحمه الله نه روايت دې چه د پيريانودرې قسمه دی د يود پاره خو عذاب او ثواب دې يوقسم د زمکه اوآسمان په مينځ کښې الوزی اويوماران اوسپی دی.دانسانانو هم درې قسمونه دی يوهغه کومو ته چه به الله ﷻ دعرش دسوری لاندې ځائ ورکوی. په کومه ورځ چه به بغيردهغه سوری نه بل سورې نه وی.اويوقسم په مثال د ځاروو دی بلکه د دوی نه هم ډيرخراب اودريم قسم په انسانی صورتونوکښې شيطانی زړه لرونکی.حسن رحمه الله فرمائی چه پيری د ابليس داولادنه دې اوانسان دحضرت آدم ﷺ د اولادنه دې. په دواړو کښې مؤمن هم دی اوکافرهم په عذاب اوثواب کښې دواړه شريک دی په دواړوکښې ايماندار ولی الله دی.دواړو کښې بې ايمانه شيطان هم دی.

د محاريب معنی:- ﴿محاريب﴾ وائی بهترين عمارت ته د کور بهترين حصې ته د مجلس د صدارت ځائ

---

[1] الطبری: ۲۰/۳٦۲.

ته په قول د مجاهد رحمه الله هغه عمارتونوته چه د محل نه ئی کمه درجه وی. ضحاك رحمه الله فرمائی جمات ته. قتاده رحمه الله وائی چه لویولویومحلونواوجماتونه ته.ابن زید وائی کورته.(تماثیل) وائی تصویرونوته دا د تانبې وو د قتاده رحمه الله په قول دا د خاورې او شیشې وو. (جواب) جمع ده د (جابیة) جابیه هغه حوض ته وائی په کوم کښې چه اوبه راځی دا په مثال د تالاب وو. ډیر لوئ لوئ خانکونه وو دې د پاره چه د حضرت سلیمان علیه السلام د فوج دپاره ډیرخوراك په یوځل تیاریدې شو اود هغوې په وړاندې راوړې شو. او کلك کړې شوی دیګونه چه د دروندوالی په اخوادیخواکولې نه شو. هغه ته الله ﷻ فرمائیلې وو ماچه تاته د دین اودنیاکوم نعمتونه درکړی په دې باندې زما شکر اداکړه. شکر مصدر دې بغیرد فعل نه یامفعول له دې. او په دواړو تقدیرونوباندې په دې دلالت دې چه شکر ځنګه په کوم قول اواراده سره کیږی په فعل سره هم کیږی. لکه یو شاعر وائی:

افادتکم النعماء منی ثلاثة یدی ولسانی والضمیر المحجبا

یدې کښې هم شاعرد نعمتونوشکر په دریواړو طریقوسره منی. فعل سره ژبې سره اوزړه سره. د حضرت ابوعبدالرحمن سلمی رحمه الله نه روایت دې چه مونځ هم شکردې او روژه هم شکردې اونیك عمل کوم چه ته دالله ﷻ دپاره اوکړې هم شکردې اود ټولونه غوره شکر حمددې(۱) محمدبن کعب قرظی رحمه الله فرمائی شکردالله ﷻ تقوی اونیك عمل دې.آل داؤدبه دواړه قسمه شکر اداکولو.قولاً هم اوفعلاً هم. ثابت بنانی رحمه الله فرمائی حضرت داؤد علیه السلام په خپل بال بچ اولاد اوښځوباندې داسې د وختونو په پابندئی سره نفل مونځ تقسیم کړې وو چه هروخت به ځوك نه ځوك په مانځه کښې مشغول ښکاریدو. بخاری اومسلم شریف کښې رسول الله ﷺ فرمائی الله ﷻ ته د ټولونه خوښ د حضرت داؤد علیه السلام مونځ وو. هغوی به نیمه شپه اوده کیدل دریمه حصه شپه به ئی قیام کولو اوشپږمه حصه به اوده کیدو.دغه شان د ټولو روژونه د الله ﷻ خوښې روژې هم د هغه وې. هغوی به یوه ورځ روژه وه او بله ورځ بغیرروژې. په هغوی کښې یوه خوبی داهم وه چه دښمن سره د جهادپه وخت ئی مخ نه اړولو(۲) ابن ماجه کښې دی د حضرت سلیمان علیه السلام موربی بی هغوی ته اوفرمائیل ګرانه بچې د شپې ډیر مه اوده کیږه. د شپې ډیر خوب انسان د قیامت په ورځ فقیر جوړوی.(۳)

ابن ابی حاتم کښې په دې موقعه باندې د حضرت داؤد علیه السلام یو اوږد حدیث نقل دې. هم په دې کتاب کښې داهم روایت دې چه حضرت داؤد علیه السلام د الله ﷻ په حضورکښې عرض اوکړواې رب العالمین ستا څنګه شکر اداکړم شکرکول خو پخپله ستایونعمت دې. جواب ملاوشوداؤد علیه السلام اوس تا زما شکر ادا کړو کله چه تا دااوپیژندل چه دا ټول نعمتونه هم زما د طرف نه دی. بیاد یوې واقعه خبر ورکولې شی چه بندیګانوکښې شکر کونکی بندیګان ډیر کم دی.

فَلَمَّا	قَضَيْنَا	عَلَيْهِ
پس هر کله چې احکم اوکړومونږه په هغه باندې		
نوځه وخت چې مونږ په هغه دمرګ		

---

۱) الطبری:۲۰/۳۶۹.

۲) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب احب الصلاة الی الله صلاة داؤد:۳۴۱۹-۳۴۲۰، صحیح مسلم: ۱۱۵۹، ابوداؤد:۲۴۴۸، السنن الکبری:۱۳۲۷،ابن ماجه: ۱۷۱۲.

۳) ابن ماجه کتاب اقامة الصلوات باب ماجاء فی قیام اللیل:۱۳۳۲.

Scanned with Ca

الْمَوْتَ	مَا دَلَّهُمْ	عَلٰى مَوْتِهٖٓ	اِلَّا	دَآبَّةُ الْاَرْضِ
دمرګ	نو خبر نۀ کړل هغه پیریانو لره	په مرګ دهغه باندې	مګر	وینه دزمکې
حکم جاری کړو	نو هغوئ ته بل چانه خویو وینه (چینجی) دمرګ پته ورکړه			
تَاْكُلُ	مِنْسَاَتَهٗ	فَلَمَّا	خَرَّ	تَبَيَّنَتِ	الْجِنُّ
چې خوړله ئې	همسا دهغه	پس هر کله چې	راپریوتو هغه	نو پوهه شول	پیریان
چې د هغه همسا ئې خوړله	نو څه وخت چې هغوئ راپریوتلو	انو پیریانوته ښکاره شوه			
اَنْ لَّوْ كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ	الْغَيْبَ	مَا لَبِثُوْا	فِي الْعَذَابِ
که چرې وې هغوئ	چې پوهیدلې	په غیبو باندې	نو وخت به نۀ ووئ تیر کړې هغوئ	په عذاب
که چرې مونږ دغیبو په کارونو خبر وې	نو په دې ذلیل عذاب کښې به (دومره موده)			
الْمُهِيْنِ ؕ				
سپکونکی کښی				
نه تیروله				

قوله تعالی:- فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ

د حضرت سلیمان علیه السلام د مرګ ذکر:- دحضرت سلیمان علیه السلام دمرګ کیفیت بیانولې شی اودا هم چه کوم پیریان دهغوی دحکم لاندې کار روزګارکولو هغوی ته ددوی مرګ څنګه معلوم شوهغه دمرګ نه پس هم لرګې ته اډه وهلې ولاړ وو اودوې هغه ژوندې ګنړلوسرتیتې په سختوسختو کارونو کښې مشغول وو. مجاهد رحمه الله وغیره فرمانی چه تقریبا یوکال داسې تیرشو.دکوم لرګی په ډاډچه هغه ولاړ وو کله چه هغه وینواوخوړلواوهغه ډډشو نو هغوی راپریوتل. اوس پیریانواوانسانانوته دهغوی دمرګ پته اولګیده. ددغه وخت پورې نه پیریانوته اونه انسانانو ته د دې خبرې یقین وو په دوی کښې یوهم په غیبوباندې پیژندونکې نشته.

یو منکر روایت :- په یومرفوع منکر اوغریب حدیث کښې دی خوتحقیقی خبره دا ده چه د دې مرفوع کیدل ټیک نه دی فرمائی حضرت سلیمان علیه السلام چه به کله مونځ کولو نوخپلې مخې ته به ئې یوه ونه لیدله دې نه به ئې تپوس کولو چه ته څنګه ونه ئې؟ستانوم څه دې؟هغې به خودل.هغه به دا په استعمال کښې راوستله.یوځل هغوی دغه شان په مانځه اودریدل اوونه ئې اولیدله نوتپوس ئې تري اوکړو ستا نوم څه دې؟ هغې وئیل خروب. تپوس ئې اوکړود څه د پاره ئې؟ وئیل د دې کور د تباهئی د پاره. بیا هغه دعااوکړه چه یاالله زما دمرګ خبر پیریانوته مه ورکوه دې د پاره چه انسانانوته یقین پیداشی چه پیریان په غیبوباندې نه پوهیږی.اوس هغوی په یولرګی باندې ډډه اولګوله او اودریدو اوپیریانوته ئې ګران ګران کارونه حواله کړه.دهغوی وفات اوشوخود لرګی په امدادباندې هغه هم داسې ولاړود. پیریانو به کتل اودائی ګنړل چه هغه ژوندې دې. په خپل خپل کارکښې لګیاوو یوکال پوره شو او وینو دغه لرګې خوړلو د پوره کال په تیریدوباندې ئې دغه لرګې اوخوړلو اوس سلیمان علیه السلام راپریوتلو او انسانانو ته پته اولګیدله چه پیریان په غیبونه پوهیږی. ګنې ټول کال به په دې مصیبت کښې اخته نه وو.خود دې راوی عطاء بن مسلم خراسانی په بعضې احادیثوکښې نکارت وو.

Scanned with Ca

بل روایت:- دبعضې صحابه کرامو نه روایت دې چه دسلیمان ﷺ عادت ووچه هغوی به کال په کال دوه دوه کاله یا کموزیاته موده په مسجدقدس کښې اعتکاف ته کیناستو په آخری ځل دوفات په وخت کښې هم هغوی په مسجدبیت المقدس کښې وو.هرسحر به یوه ونه دهغوی په وړاندې رابنکاره کیده هغوی به د دې نه د نوم تپوس کولو دکار تپوس به ئې کولواوهغې به خودل نوهغوی به هم په دې کار کښې اخسته. آخریوه ونه ښکاره شوه کومې چه خپل نوم خروبه اوخودلو وئې وئیل ته د څه مطلب دپاره ئې؟ وئې وئیل د دې جمات د ورانولودپاره حضرت سلیمان ﷺ پوهه شو وئې فرمائیل چه زما په ژوندکښې خودا جمات ورانیدې نه شی. خوته زما د مرګ او ورانیدود پاره ئې. هغوی دا په خپل باغ کښې اولګوله. د جمات په مینځ کښې د یولرګی په ډاډباندې اودریدو او مونځ ئې شروع کړو. هم هلته وفات شو.خوچاته د دې علم اونه شو. شیطانانوټولوخپل کار کولو چه هسې نه مونږ سستی اوکړو او د الله تعالی رسول ﷺ راشی نومونږ ته به سزا راکړی. دوی دمحراب وړاندې روستوراغله په دوی کښې یو ډیرلوئ حرامی شیطان وو هغه وئیل ګورئی په دې کښې خو وړاندې روستوسوړې دی که زه د دې ځائ نه واخله ترهغه ځائ پورې لاړشم نوزما طاقت به اومنئ؟ نوهغه لاړو اوراووتلو. دلته د سلیمان ﷺ واز رانغلو. کتلې خوئی شونه ځکه چه سلیمان ﷺ ته به ئې یونظرکتل اومړه کیدل به.خود ده په زړه کښې څه خیال شان تیرشو هغه بیاجراءت اوکړو اوجمات ته لاړو. وئې کتل چه هلته په تلوسره هم هغه اونه سوزیدو نود هغه همت نور هم زیات شو. هغه پویونظرسره هغه ته اوکتل نو چه وئې کتل هغه راپریوتلواووفات شوې وو.اوس راغلو اوټولوته ئې خبراوکړو خلق راغله محراب ئې اوکنستلونو واقعی دالله ﷻ پیغمبرئې ژوندې اونه لیدلو. هغوی ئې دجمات نه راوویستل.دوفات دمودې دعلم حاصلولو دپاره هغوی دا لرګې وینوته وړاندې واچولو. د یوې شپې ورځې پورې چه وینودا څومره اوخوړلو هغه ئې اوکتلونواندازه ئې اولګوله اومعلومه ئې کړه چه د هغوی د وفات پوره کال شوې وو. ټولوخلقوته معلومه شوه چه دې پیریانوبه ځان خودلو چه دوی په غیبوباندې پوهیږی دا صرف دهوکه وه. ګنې ټول کال ولې په مصیبت کښې اخته وو. د هغه وخت نه پیریان د وینوچینجوته اوبه اوخاوره راوړی. لکه چه د هغوی شکریه اداکوی دائی هم وئیلې وو که چرې تاسو څه خوراک څښاک کولونو مونږ به تاسو ته د ښه نه ښه خوراک رارسولو. خودا خبرې ټولې دبنی اسرائیلو د عالمانودی په دې کښې چه کومې دحق مطابق دی هغه قبولې اوچه دحق خلاف وی نومردود. د دواړو نه جداشئی هغه نه د تصدیق قابلې دی او نه د تکذیب. والله اعلم.

بل روایت:- دحضرت زیدبن اسلم نه روایت دې چه سلیمان ﷺ ملك الموت ته وئیلې ووزما دمرګ به ماته لږ شان وړاندې وائې. حضرت ملك الموټ هم داسې اوکړه نوحضرت سلیمان ﷺ په پیریانوباندې یودبغیر دروازې د شیشې مکان جوړولو حکم اوکړو اوپدې کښې ئې په یولرګی باندې ډډه اولګوله او مونځ ئې شروع کړو اوداهرڅه د مرګ د ویرې نه وو. حضرت ملك الموټ هم په خپل وخت راغلو اوروح ئې تري قبض کړو.بیادلرګی په ډډه وهلوباندې هغه هم دغه شان یوکال ولاړوو. پیریانو به د اخوادیخوا نه کتلواو هغه ئې ژوندې ګنړلو اود هغه د ویرې په خپلو کارونوکښې مشغول وو.خوچه کوم چینجی د هغوی لرګې خوړولو نو چه نیم ئې اوخوړولو نو لرګی بوج برداشت نه کړې شو اوهغوی راپریوتل پیریانوته د هغوی د مرګ یقین اوشو اواوتختیدل. د نورو هم ډیرو سلفونه دا روایت دې.

لَقَدْ كَانَ	لِسَبَإٍ	فِيْ مَسْكَنِهِمْ	اٰيَةٌ ج
په تحقیق سره وه	دپاره دسبا قوم	په کورونو دهغوئ کښې	ننبنه
..... بیشکه دسبا دقوم دپاره ددوئ په آبادئ کښې (دالله ﷻ) ننبنې وې			چې

Scanned with Ca

جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ؕ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا

دوه باغونه | ښی طرفته | اوګس طرفته | خوریٔ | درزق | درب خپل نه | او شکر اوباسئ

ددې ښی اوګس طرفته دوه باغونه(خواره)وو|اجازت ووچې)درکړې رزق خوریٔ |اودهغه شکراوباسئ

لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ﴿۱۵﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا

دهغه | وطن دی | پاك | او رب دی | ښښونکې | پس مخ واړوؤ هغویٔ اپس اولیږو مونږه

دا(ستاسو ښار)پاکیزه ښار دی |او(ستاسورب) ښښونکې رب دی انو هغویٔ زمونږ دحکم نه مخ واړولو نومونږ په

عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ

په هغویٔ باندې | سیلاب دښند | او بدل ورکړو مونږه هغویٔ ته | دووو باغونو دهغویٔ سره |

هغوی باندې دزور سیلاب راپریښودو|اود دواړو اړخونو د(ګورو) باغونو په بدل کښې مو ورته داسې باغونه

جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ

دوه باغونه نور | خاوندان | دمیوې | بې مزې (ترخې) | او دجاوکی ونې | او څه قدرله | دبیرې نه |

وزګړل | چې بې خونده میوې او غزونه اولږې غوندې د بیرو جاړې په کښې

قَلِيْلٍ ﴿۱۶﴾ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ؕ

لږ | دا عذاب | بدله ورکړه مونږه هغویٔ له | په سبب دهغې | چې کفر ئې اوکړو|

ولاړې وې | دا مو ورته د ناشکرئ بدله ورکړه | اومونږ داسې سزاګانې صرف

وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ﴿۱۷﴾

او جزا نه ورکوؤ مونږه | مګر | ناشکره ته |

ناشکره خلقو ته ورکوو|

قوله تعالی:- لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ

د قوم سباتذکره:- قوم سباپه یمن کښې اوسیدل اود هغوی په شان تبع ئی هم وه.بلقیس هم د هغوی نه وه. په ډیرونعمتونواومزوکښې وو. په آرام اوسکون سره ئی ژوندتیرولو. د الله ﷻ رسول هغوی له راغلو اودشکرکولوتلقین ئی ورته اوکړو.درب د وحدانیت طرف ته ئی راوبلل اوهم د هغه عبادتونو باندې ئی پوهه کړل نود څه زمانې پورې خو هم داسې پاتې شو خوچه بیاکله هغوی سرکشی اوکړه اومخ واړولو اوالله ﷻ احکام ئی په بې پرواهئی سره پریخودل نوپه هغوی باندې دډیرزورسیلاب راغلوټول ملك باغونه اوفصلونه وغیره ئی تباه بربادکړل د کوم تفصیل چه دا دی.

د تباهئ تفصیل او د سبا متعلق احادیث:- د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه سبا د ښځې نوم دې که دسړی اوکه دځای؟حضور ﷺ اوفرمائیل دایوسړې وودهغه لس ځامن وو په کوم کښې شپږ په یمن کښې آبادشوې وواوځلور په شام کښې.مذحج، کنده، ازد ، اشعری، انماراوحمیردا شپږ قبیلې په یمن کښې دی.لخم، جذام، عامله او غسان داځلور قبیلې شامی دی(۱)فرده بن مسیك ﷺ فرمائی ماد رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو آیا زه پخپل قوم کښې منونکی اووړاندې کیدونکی واخلم اودنه منونکو او

(۱) احمد: ۳۱۶/۱

روستو کیدونکوسره جنګ اوکړم؟حضور ﷺ اوفرمائیل او.کله چه زه لاړم نوحضور ﷺ زه راوغوښتم ونی فرمائیل ګوره اول هغوی له داسلام دعوت ورکړه چه اونه منی نوبیادجهادتیاری اوکړه. ما وئیل حضور ﷺ داسباد څه نوم دی؟ دحضور ﷺ جواب تقریبا هم داسې دی لکه چه داپورته تیرشو. په دې کښې داهم دی چه د قبیله انمار کښې بجیله او خثعم هم دی(۱)په یوبل اوږدروایت کښې د دې آیت د شان نزول متعلق هم دې سره دی چه حضرت فرده ﷺ رسول الله ﷺ ته وئیلی وویارسول الله ﷺ د جاهلیت په زمانه کښې دقوم سباعزت وواوس ماته دهغوی دمرتدکیدو ویره ده نوکه تاسو اجازت راکړئی نوزه به ورسره جهاداوکړم. حضور ﷺ اوفرمائیل چه د دوی باره کښې حکم نه دې راکړې شوې. نودا آیت نازل شو الخ. خوپه دې کښې غرابت دې دې نه خودامعلومیږی چه داآیت مدنی دې سره ددې چه داسورت مکی دې.

د سبا نسب نامه:-محمدبن اسحاق دسبا نسب نامه داسې بیانوی. عبدالشمس بن یشجب بن یعرب بن قحطان،دې ته سبا ځکه وائی چه هم دوی د ټولونه وړاندې په عربوکښې د دښمن د قیدکولورواج شروع کړې وو اوهم دوی د ټولونه اول د غنیمت مال په فوج کښې د تقسیم کولورواج اچولې وو. په دې وجه دوی ته رائش هم وائی. مال ته ریش او ریاش هم ورته په عربی کښې وائی. داهم ذکر دی چه دې بادشاه د رسول الله ﷺدتشریف راوړو نه وړاندې د هغوی پیشین ګوئی کړې وه چه د ملك مالك به زمونږ نه پس یو نبی وی چه د حرم عزت به کوی. د هغه نه پس به د هغه خلیفه ګان وی د چاپه وړاندې چه به د دنیابادشاهان سرښکته وی. بیا به په مونږ کښې هم بادشاه راځی او په بنوقحطان کښې به هم نیکان باشاهان وی.د دغه نبی نوم به احمد ﷺ وی. افسوس چه زه هم د هغه نبی په زمانه کښې وې اود هرقسم خدمت مې غنیمت ګنړلو. ای خلقو کله هم چه د الله ﷻ هغه رسول ﷺ ښکاره شی په تاسو باندې فرض دی چه د هغه ملګرتیااوکړئی اود هغه امدادکونکی جوړشئی څوك هم چه هغه سره ملاو شی په هغه باندې زما دطرف نه دا فرض دی چه هغه دې د هغوی په خدمت کښې زما سلام اورسوی. (اکلیل همدانی) دقحطان باره کښې دري اقوال دی.یودا چه هغوی د ارم بن سام بن نوح د اولادنه دی. دویم کښې دی چه هغوی عابر یعنی حضرت هود ﷺ د نسل نه دی دریم دا چه د حضرت اسماعیل ﷺ بن ابراهیم ﷺ دنسل نه دی.دا ټول په تفصیل سره حافظ ابن عبدالبر رحمه الله خپل کتاب الانتباه کښې ذکر کړی دی. په بعضې روایتونوکښې چه داکوم راغلی دی چه سبادعربونه وو. د دې مطلب دا دې چه د دې خلقونه د کوم د نسل نه چه عرب شوی دی د هغوی نسل د ابراهیمی نه مشهور نه دې. والله اعلم.

صحیح بخاری کښې دی چه قبیله اسلم کله نښه بازی کوله اوحضور ﷺ د هغې سره تیرشو نوحضور ﷺ اوفرمائیل ای د اسماعیل ﷺ اولاده غشی وروئی ستاسو پلاران هم ډیر غشې ورونکی وو. (۲) دې نه خودا معلومیږی چه د سباسلسله خودخلیل الرحمن پورې رسی.اسلم دانصارویوه قبیله وه اوټول انصار د غسان نه وو اودا ټول یمنیان وو اود سبااولاد وو. داخلق مدینې ته هغه وخت راغلی وو کله چه په سیلاب د هغوی وطن تباه شو یوه ډله راغله دلته آباده شوې وه. دویمه شام ته لاړه. غسانی ورته په دې وجه وائی چه هم د دې نومې د اوبویوځای باندې دوی ولاړوو. داهم وئیلې شوی دی چه دا د مشلل سره نیزدې دې. دحضرت حسان بن ثابت ﷺ د شعر نه هم د دوی ثبوت ملاویږی. چه یود اوبو والا ځای یادهغه کوهی نوم غسان وو.داچه کوم حضوراکرم ﷺ فرمائیلی دی چه دهغه لس اولاد وو دې نه مراد صلبی اولاد نه وو.ځکه چه بعضې بعضې په کښې د دوو دوو دریودریو نسلونونه پس هم دی. لکه چه په کتب انساب کښې موجود دی. داکوم چه په شام اویمن کښې آبادشوی دی داهم د سیلاب د راتلونه پس ذکردې بعضې هم هلته اوسیدل اوبعضې اخوادیخوا لاړل.د دیوال قصه داسې ده چه دواړو طرفونه

---

۱) ابوداؤد کتاب الحروف:۳۹۸۸وسنده حسن، ترمذی:۳۲۲۲.

۲) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب التحریض علی الرمی...:۲۸۹۹، احمد:٤/٥٠، ابن حبان: ٤٦٩٣.

Scanned with Ca

غروودکوم خائ نه چه چینی اونهرونه رابهیدل اود هغوی ښارونوته به راتلل دغه شان به لختی او سیندونه هم اخوادیخوا نه راتلل. د دې په پخوانوبادشاهانوکښې چا د دې دواړو غرونوپه مینځ کښې یومضبوط پیشتی جوړه کړې وه. د کوم دیوال په وجه چه اوبه اخوادیخوا شوې وې ښائسته دریاب به تری روان وو.دکوم دواړو طرفونوته چه باغونه اوفصلونه لګولې شوې وو.د اوبودزیاتوالی اود ښکلې زمکې په وجه داعلاقه ډیره شنه اوآباده وه تردې چه دحضرت قتاده رحمه الله بیان دې چه یوې ښځې به په سربانديې شکرئی کیخوده او تله به نو په روانه کښې به هغه شکرئی د میوونه ډکه شوې وه. د ونونه چه به کومه میوه پخپله راپریوتله هغه به دومره زیاته وه چه په لاس سره د راشوکولو ضرورت به نه وو.(۱) دا دیوال په مارب کښې وو چه د صنعاء نه په دریومنزلوباندې وو او د سد مارب په نوم سره مشهورو.

د ملک سبا ښائست:- داب و هوا دښکلې والی صحت اومزاج په اعتدال سره دالله ﷻ مهربانئی سره داسې ووهلته به ماشی مچان اوزهریله ځناور هم نه وو.دا د دې د پاره وو چه داخلق الله ﷻ اودهغه توحید اومنی په ځان اودزړه په خلوص سره د هغه عبادت اوکړی. داوه هغه د قدرت ننبنه دکومې ذکر چه په دې آیت کښې دې.ددواړوغرونوپه مینځ آباد کلې اودکلی دواړو طرفوته تك شنه میوه دار باغونه او تك شنه فصلونه وو. دوی ته الله ﷻ فرمائیلې وو چه د خپل رب ورکړې رزق خورئی اود هغه په شکرکښې اخته اوسئی. خوهغوی دالله تعالی توحیداود هغه دنعمتونوشکر هیرکړو اود نمر عبادت ئی کولو. لکه چه ملاچرګك حضرت سلیمان ﷺ ته خبرورکړې وو چه ﴿وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ﴾(۲) یعنی ما تاله د سبا یوپوخ خبر راوړې دې یوه ښځه د هغوی بادشاهی کوی هغې سره هرڅیز موجود دې او په یو عظیم الشان تخت دبادشاهئی ناسته ده. بادشاه او رعایا ټول د نمر عبادت کوی. شیطان د هغوی لار وهلې ده. بې لارې شوی دی.

ملک سبا ته دولس پیغمبران راغلی وو:- روایت دې چه دولس یادیارلس پیغمبران هغوی له راغلې وو. آخردهغوی علم رنګ راوړاوکوم دیوال چه هغوی جوړکړې وو هغه مړو د دننه نه ډډکړو اودباران په موده کښې رامات شو او په اوبوکښې لاهوشو. د دې دریابو اوچینو دباران ټولې اوبه راغلې د هغوی کلی دهغوی محلونه د هغوی باغونه اوفصلونه ټول تباه بربادشو. لاسونه ئی مروړل چه هیڅ چل ول نی هم اونه چلیدو بیا خو هغه تباهی راغله چه په دې زمکه باندې یوه میوه داره اونه نه شوه اودریدې د شوې کیکرازغی اوهم داسې بې میوې اوبدمزه ونې راټوکیدلې.اوداده چه څه دبیرو ونې هم راټوکیدلې وې چه نسبتا د نورو ونونه څه د کار وې. اوهغه خوډیرې ازغیژنې اودکمې میوې والا وې. دا وو دهغوی دکفراوشرك سرکشئی اوکبربدله چه نعمتونه ترې لاړل اوزحمتونوکښې اخته شول. کافرانوته هم داسې اود دې په شان سختې سزاګانې ورکولې شی .حضرت ابن جریر رحمه الله فرمائی د ګناهونوبدله هم دا وی چه په عبادتونوکښې سستی راشی په روزګارکښې تنګی راشی او په خوندونوکښې سختې راشی.یعنی چرته ئی چه د راحت مخ اولیده نو څه زحمت پرې راپریوتلو اومزه ئی خاورې شوه.

وَجَعَلْنَا	بَيْنَهُمْ
او آباد کړی وو مونږه	په منځ دهغوئ کښې
او مونږ دهغوئ د ملک	اود هغو کلو

(۱) الطبری:۲۰/۳۷۲.
(۲) ۲۷/النمل:۲۲. الخ

وَبَيْنَ الْقُرَى	الَّتِيْ	بٰرَكْنَا	فِيْهَا	قُرًى ظَاهِرَةً	
او په منځ د کلو کښې اهغه کلو کښې اچې برکت کیښودې وو مونږه اپه هغې کښې				کلی ښکاره	
ترمینځه چې برکتونه مو په کښې اچولې وو نور ډیر کلی آباد کړی وو				چې ښکاره پراته وو	
وَّقَدَّرْنَا	فِيْهَا	السَّيْرَ ؕ	سِيْرُوْا	فِيْهَا	لَيَالِيَ وَاَيَّامًا
او په اندازه کړې وو مونږ	په هغې کښې	مزل	ځی راځئ	په دې کښې	دشپې او دورځې
اوپه هغې کښې مو دتګ راتګ (سمې پخې) اندازې مقرر کړې وې اچې بې غمه په کښې شپه او ورځ					
اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾	فَقَالُوْا	رَبَّنَا	بٰعِدْ	بَيْنَ	اَسْفَارِنَا
په امن سره	نو اووئیل هغوئ	اے ربه زمونږه	لرې والې پیدا کړه	په منځ	دسفرونو زمونږ کښې
تګ راتګ کوئ	نو هغوئ اووئیل چې ائې زمونږه ربه!	زمونږ دا سفرې لرې اوږدې کړه			
وَظَلَمُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	فَجَعَلْنٰهُمْ	اَحَادِيْثَ	وَمَزَّقْنٰهُمْ	
اوظلم اوکړوهغوئ	اپه ځانونو خپلو باندې	پس جوړ کړل مونږه هغوئ	قیصې	او خوارۀ کړل مونږه هغوئ	
اوپه خپل ځان ئې زیاتې اوکړو	نو مونږ ترې نه قیصې جوړې کړې	اوخواره واره موکړل			
كُلَّ مُمَزَّقٍ ؕ	اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّكُلِّ صَبَّارٍ	شَكُوْرٍ ﴿۱۹﴾	
په پوره خوررولو سره	بیشکه په دې کښې	نښې دی	دپاره دهر صبر کونکی	شکر ایستونکی	
په دې واقعه کښې هر صبر کونکی اوشکر ګذار انسان دپاره (دعبرت) نښې دی					

قولهتعالي:- وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ

دسبا په قوم باندې دالله تعالی نور انعامونه: په هغوی باندې چه کوم نور نعمتونه وو دهغې ذکرکولې شی چه نیزدې نیزدې آبادئی وې یومسافرته هم په سفرتلوکښې دخوراک څښاک یاځه توښې داوړلو ضرورت نه وو.په هریو منزل باندې پخې مزیدارې تازه ښکلې اوخوږې میوې موجود وې. هره یوه شپه دې په یو کلی کښې تیرولې شوه او په آمن او امان سره ښه په مزه ځه راځه. وائی چه کلی صنعاء سره نیزدې خواو شاکښې وو. د (باعد) دویم قراءت (بعد) دې په هغه آرام اومزوکښې پلن شواوځنګه چه بنی اسرائیلو د من اوسلوی په بدله کښې اوګه اوپیاز وغیره غوښتې وو هغوی هم د لرې لرې سفرونوکولو غوښتنه اوکړه چه په خنګل هم راشی اوغیرآباد بیابانونه هم راشی نود خوراک څښاک خوند به هم راپیداشی. د موسی علیه السلام په قوم باندې دې غوښتنې ذلت اورسوائی واچوله دغه شان هغوی ته هم د رزق د فراخئی نه پس هلاکت نصیب شو. په اولږه او ویره کښې پریوتل. اطمینان او امن ئی غرق شو. هغوی کفر کولو سره خپل کارخراب کړو اوس صرف دهغوی قصې پاتې شوې.اوپه خلقوکښې دهغوی افسانې پاتې شو. ګاونډشو او تردې چه تباه شو نو په عربوکښې هغوی ته د سبایانوپه شان مثال ورکوی.

دملک سبا د یو کاهن قصه:- عکرمه رضی الله عنه دهغوی قصه بیانولوسره وائی چه په دوی کښې یوه کاهنه ښځه اوکاهن سړې وو چاله چه به پیریانود اخوادیخوانه خبرې راوړلې. دې کاهن ته چرته پته اولګیده چه ددې کلی دتباهئی زمانه رانیزدې ده اود دې ځائ خلق تباه کیدونکی دی. دې وو هم ډیر مالدار او جائیداد من سړې وو هغه سوچ کولو چه ماله څه کول پکاردی اود دې حویلو مکانونو باغونو په نسبت کښې څه انتظام کول پکاردی.اخریوه خبره هغه له ذهن کښې راغله چه دهغه دسخرګنئی خلق ډیر زیات وواوهغه قبیلې هم مالداره وې هغه خپل څوئ راوبللو اوورته ئی اووئیل واوره صبابه ماسره خلق

Scanned with Ca

راجمع کیږی زه به تاته دیوکار اووایم ته انکاراوکړه زه به تاته بدې ردې وایم ته ماته هم په جواب کښې کنځل کوه زه به راپاسم اوتاله به څپیړه درکړم ته هم د دې په جواب کښې ما په څپیړه اووهه. هغه وئیل بابا جانه مانه به داځنګه اوشی؟ کاهن ورته وئیل ته نه پوهیږې یوه هم داسې اهمه معامله مخې ته ده اوتاله زما حکم منل پکاردی.هغه اقرار اوکړو.کله چه بله ورځ د هغه ملاویدونکی خلق راجمع شو هغه خپل دې ځوئ ته دځه کار اووئیل هغه صفاانکاراوکړو.هغه ده ته کنځلې اوکړې نو ده هم هغه مخامخ کنځلې اوکړې.دې په غصه کښې ورپاسیدو اوهغه ئی اووهلو.ځوئ هم واپس شو اوپلاړې اووهلو دې په غصه شو او وئی وئیل چاړه راوړئی زه خو به دې حلال کړم.ټول خلق اوویریدل او ډیر ئی پوهه کړو خو ده هم داوئیل چه زه به دې حلال کړم. خلقو منډې ترړې شروع کړې اود هلك ماماګان ئی خبر کړه راغله اول خو ئی ښه منت زاری اوکړه خوهغه چرته منله. هغوی وئیل چه ته ده له څه بله سزا ورکړه. د ده په بدله کښې چه مونږ له څه سزا راکول غواړئی راکړئی هغه وئیل چه زه خو به دې باقاعده راسملوم او حلالوم به ئی. هغوی وئیل چه ته داسې نه شې کولې. دې نه وړاندې به مونږ تامې کړو.هغه وئیل چه ښه ده کله خبره تردې ځائ راورسیده نوزه په داسې ښارکښې اوسیدل نه غواړم چرته چه زما اوزما د اولاد په مینځ کښې نور خلق راشی.زما نه زما کورونه جائیدادونه زمکې هرڅه واخلئی اوزه چرته بل خواته ځم.هغه هرڅه خرڅ کړل او نقد قیمت ئی وصول کړو.کله چه د دې طرف نه تسلی اوشوه نوخپل قوم نه ئی خبر ورکړو.واورئی د الله ﷻ عذاب راروان دې اودزوال وخت مو نیزدې راروان دې.اوس چه په تاسو کښې څوك داوږدسفراونوی کورونوخواهش مند دی نوهغه دې عمان ته لاړشی اوچه څوك د خوراك څښاك شوق مند وی هغه د بصرې ته لاړشی اوچه څوك مزیداري کهجوري او باغونوکښې کینی او په آزادئی سره خوړل غواړی نو هغه دې مدینې ته لاړشی. د قوم د ده په خبروباندې یقین وو کوم ځائ چه کوم ځیز خوښ شو نوهم هغه طرف ته ئی مخ کړو منډئی کړه. بعضې د عمان طرف ته بعضې د بصرې طرف ته او بعضې د مدینې طرف ته. دغه طرف ته درې قبیلې اوس خزرج او بنوعثمان تلې وې. کله چه داخلق بطن مر ته اورسیدل نو بنو عثمان ته ئی اووئیل چه زمونږ خوداځائ ډیر خوښ دی. اوس به مونږ وړاندې نه خو نوهم دلته آباد شو اوهم په دې وجه باندې هغوی ته خزاعه وئیلې شی ځکه چه هغوی د خپلو ملګرونه روستوپاتې شو. اوس اوخزرج برابر مدینې ته اورسیدل اوهم دلته راغله قیام ئی اوکړو.

دا کاهن څوک وو؟؟ دا اثرهم ډیر عجیبه دې د کوم کاهن چه په دې کښې ذکر دې د هغه نوم عمروبن عامردې دادیمن سردار وو اودسبادلویوخلقو نه وو اود هغه کارکاهنی وه.په سیرت ابن اسحاق کښې دی چه دټولونه وړاندې دې دیمن نه وتلې وو ځکه سدمارب ډډکونکې مړې هغه لیدلې وې اوپوهه شوې وو چه اوس دیمن خیرنشته دادیوال به راپریوځی اوسیلاب به هرڅه لاندې باندې کړی. نوهغه خپل دټولونه وړوکی خوئ ته دغه مکر کوم چه پورته ذکر شو اوخودلو. په دغه وخت کښې هغه په غصه سره اووئیل چه زه په داسې ښار کښې نه اوسیږم. زه خپل جائیداد اوزمکې هم په دې وخت خرڅوم خلقووئیل دعمرو داغصه غنیمت اوګڼئی ګران اوارزان هر څه ئی خرڅ کړل ځان ئی اوزګارکړو لاړو. قبیله اسد هم ده سره شوه.په لارکښې عکه هغوی سره اوجنګیدل. برابر برابر جنګ اوشو د کوم ذکر چه عباس بن مرداس سلمی په خپلو شعرونوکښې کړې دي. بیا دوی د دې ځائ نه لاړل او مختلفو ښارونو کښې خواره شول.آل جفنه بن عمرو بن عامر شام ته لاړل اوس اوخزرج مدینې ته لاړل. خزاعه مر ته او ازدسراة مراة ته،ازدعمان کښې دلته سیلاب راغلو دمارب بندئی مات کړوسدی ﷺ پدې قصه کښې بیان کړې دې چه هغه د خپلې مقابلې د پاره خوئ نه وراره ته ونیلې وو. د بعضې اهل علم بیان دې چه دهغه ښځه د کومې نوم چه طریفه وو په خپل کهانت سره دا خبره معلومه کړه او ټولوته ئی اوخودله

Scanned with Ca

بل روایت کښې دی چه په عمان کښې غسانی او ازدهم هلاك کړې شو. سره د خوږو اویخو اوبو او میووفصلونو اود بې حسابه رزق دعرم په سیلاب باندې داحال شو چه یوې یوې نورنۍ او یویو ځاځکی ته محتاج شو. دا نیول اودا عذاب سختی اوسزا چه کومه هغوی ته اورسیده دې نه هریوصبرکونکې اوشکر کونکې عبرت حاصلولې شی چه د الله ﷻ نافرمانئی څنګه انسان راګیروی عافیت اخواکوی او آفت راولی.په مصیبتونو باندې صبراونعمتونوباندې شکرکونکی به پدې کښې دقدرت دلائل اووینی. رسول الله ﷺ فرمائی الله تعای دمؤمن باره کښې حیرانونکی فیصله کړې ده که راحت ملاو شواودې شکراوکړی نواجریه مومی اوکه ده ته مصیبت اورسی اوصبراوکړی نوبیابه هم اجر مومی.غرض دا چه مؤمن ته په هرحال کښې اجر اوثواب ملاویدنکې دی.دهغه هریوکار نیك دې تردې چه په مینه کومه نورنۍ دې دخپلې بنځې په خُله کښې واچوی په دې باندې هم ده ته ثواب ملاویږی.( )

بخاری اومسلم شریف کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی حیرانتیاده د هغه مؤمن د پاره چه د الله ﷻ هره فیصله دهغه دښیګړې دپاره وی که ده ته راحت اوخوشحالی ملاویږی نوپه شکرکولوسره نیکی حاصلوی اوکه بدی اوغم ورسی نو صبرکوی اوبدله حاصلوی.دانعمت صرف هم مؤمن ته حاصل دې د چاهرحالت چه بهتری او بنیګړې والا دې. ([2]) حضرت مطرف رحمه الله فرمائی صبراوشکر کونکې بنیادم څومره بنه دې چه کله ورته نعمت ملاوشی نوشکر کوی او کله چه ورته زحمت ملاوشی نو صبرکوی.

وَلَقَدْ	صَدَّقَ	عَلَيْهِمْ	إِبْلِيسُ	ظَنَّهُ
او په تحقیق سره	رښتیا اوموندو	په معامله دهغوئ کښې	ابلیس	ګمان خپل
او شیطان دهغوئ په حق کښې خپل (دګمراهئ) ګمان صحیح بیا موندو				
فَاتَّبَعُوهُ	إِلَّا	فَرِيقًا	مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝	وَمَا كَانَ	لَهُ
پس پیروی اوکړه هغوئ دهغه	مګر نه	یوې ډلې	دمومنانونه	اونه وؤ	شیطان لره
نو دایماندارو دیو ټولی نه بغیر نور ټول خلق دهغه په لار روان شول				اود شیطان په هغوئ	
عَلَيْهِمْ	مِّن سُلْطَانٍ	إِلَّا	لِنَعْلَمَ	مَن يُؤْمِنُ
په هغوئ باندې	څه اقتدار(تسلط)	مګر	دپاره ددې چې معلوم کړومونږ	هغه څوك چې ایمان راوړی
باندې نور هیڅ وس نه رسیدو		مګر ددې (امتحان) دپاره چې مونږ هغه خلق کوم چې		
بِالْآخِرَةِ	مِمَّنْ	هُوَ	مِنْهَا	فِي شَكٍّ ط	وَرَبُّكَ
په آخرت باندې	دهغه چانه	چې هغه	دآخرت نه	په شك کښې وی	او رب ستا
په آخرت یقین لری دهغه خلقو نه جدا			ښکاره کړو	څوك چې په دې کښې شك کوی	او ستارب
عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ	حَفِيظٌ ۝ ع				
په هر څیز باندې	ساتونکې نګران دې				
دهر څیز نګران دې					

[1]) احمد:۱/۱۷۳ وحدیث الشافعی (ح۱۲۹ وسنده صحیح) یغنی عنه، عمل الیوم واللیلة:۱۰۷۵. (مسند احمد)

[2]) صحیح مسلم کتاب الزهد باب المؤمن امرة کله خیر:۲۹۹۹،ابن حبان:۲۸۹۶، احمد:۴/۳۳۳عن صهیب ﷺ.

Scanned with Ca

قوله تعالیٰ:- وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ

د شیطان دھوکه: دسباد قصې دبیان نه پس د شیطان د نورومریدانو په عام توګه بیان کولې شی چه هغوی دهدایت په ځای ضلالت اودښیګړې په ځای بدی اخلی. ابلیس چه دالله تعالی د دربار نه شړلی اورټلې شونوهغه وئیلي ووچه زه به د آدم ﷺ اولاد دهرقسم نه تباه کولوکوشش کوم اودیوې لرې شان ډلې نه بغیربه باقی ټول ستادنیغې لارې نه اړوم.هغه دااوکړه او وئی خودل اوښیادم ئی په خپله پنجه کښې اونیولو. کله چه حضرت آدم ﷺ د خپلې خطاپه وجه د جنت نه راکوز کړې شو اوابلیس لعین هم هغه سره راکوز کړې شو هغه وخت هغه ډیرخوشحاله وو او په زړه کښې فخر کولوچه دا مې دهوکه کړو اود ده اولاددهوکه کول خو زما د ګس لاس کار دې. د دې خبیث وینا وه چه زه به بنیادم ته شنه باغونه ښایم په غفلت کښې به ئی ساتم اوقسم قسم دهوکې به ورکوم او په خپل جالونوکښې به ئی راګیر ساتم.دکوم په جواب کښې چه الله رب العزت فرمائیلي وو زمادې هم په خپل عزت قسم وی چه د مرګ د زنکدن نه وړاندې هغه کله هم توبه اوکړی زه به ئی قبلوم. هغه چه کله هم ماته آواز کوی زه به د هغه طرف ته متوجه کیږم.ماته چه کله هم هغه توبه اوکړی زه به ئی زرقبلوم. مانه چه کله هم هغه څه غواړی زه به ئی ورکوم. اومانه چه کله هم هغه ښښنه غواړی زه به ئی ښښم. (۱)

قوله تعالیٰ:- وَمَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ

دهغه هیڅ غلبه حجت زبردستی وهل ټکولو په انسان باندې نه ووصرف دهوکه مکر اوفریب وو په کوم کښې چه دا ټول اونختل. په دې کښې دالله تعالی حکمت دا وو چه د مؤمن اوکافر فرق معلوم شی او د الله ﷻ حجت ختم شی. آخرت منونکی به دشیطان نه منی.ددې منکر به درحمان تابعداری نه کوی. الله ﷻ په هرځیز باندې ساتندونکې دې.دمؤمنانوډله دهغه دحفاظت امداد اخلی.پدې وجه ابلیس د هغوی هیڅ هم نه شی کولې.اودکافرانو ډله خوپخپله الله ﷻ پریږدی په دې وجه دهغوی نه دالله ﷻ ساتل اخوا کیږی اود شیطان دهریوفریب ښکارجوړیږی.

قُلِ ادْعُوا	الَّذِيْنَ				
اووایه (اے نبی ﷺ) چې رااوبلئ	هغه کسان				
اووایه چې تاسو دالله ﷻ نه بغیر					
زَعَمْتُمْ	مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ	لَا يَمْلِكُوْنَ	مِثْقَالَ	ذَرَّةٍ	
چې تاسو ګڼلې دی معبودان	غیر دالله نه	چې مالکان نۀ دی هغوئ	په مقدار	دیوې ذرې	
په بل چا د الله ﷻ ګمانونه کوئ	هغوئ ټول راوبلئ	هغوئ خو په اسمانونو او زمکه کښې د ذرې			
فِي السَّمٰوٰتِ	وَلَا فِي الْاَرْضِ	وَمَا لَهُمْ	فِيْهِمَا	مِنْ شِرْكٍ	
په اسمانونو کښې	اونۀ په زمکه کښې	او نشته هغوئ لره	په دې دواړو کښې	څه شرکت	
برابر اختیار هم نه لری	اونه دهغوئ په دې کښې څه حصه شته	اونه په هغوئ کښې			
وَمَا لَهٗ	مِنْهُمْ	مِّنْ ظَهِيْرٍ ۝	وَلَا تَنْفَعُ	الشَّفَاعَةُ	
او نشته دپاره دالله	دهغوئ نه	څوک مددګار	اونۀ ورکوی فائیده	سفارش	
څوک دالله ﷻ په مقابله کښې امداد کولې شی	اودالله په دربار کښې سفارشونه هیڅ فائده نه ورکوی				

(۱) الدرالمنثور:٦/٦٩٥.

عِنْدَهٗٓ	اِلَّا	لِمَنْ	اَذِنَ	لَهٗ ؕ	حَتّٰٓى
په دربار دهغه کښې	مګر	دپاره دهغه چا	اچې اجازت ورکړې وی الله		دپاره دهغه	تر هغې پورې
خود چا په حقله چې هغه اجازت ورکړی	.....				تردې چې څه وخت
اِذَا	فُزِّعَ	عَنْ قُلُوْبِهِمْ	قَالُوْا	مَاذَا ۙ	قَالَ
چې کله	لرې کړې شی یره	دزړونو دهغوئ نه	نو هغوئ به اووائی	چې څه	اوونیل
دهغوئ دزړونو نه هیبت کم شی	نو دیو بل نه تپوسونه کوی	چې ستاسو رب څه حکم			
رَبُّكُمْ ؕ	قَالُوا الْحَقَّ ۚ	وَهُوَ	الْعَلِيُّ		
رب ستاسو	نو اوبه وائی (سفارش کونکی)	چې حق ئې اوونیل	او هغه		ډیر اوچت
رالیږلې دې	.....هغوئ وائی چې حقې خبرې دی	او دې ډیر اوچت دټولو نه لوئې دې			
الْكَبِيْرُ ۝					
او ډیر لوئ دې					

قوله تعالی:- قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ

ټول اختیارات هم الله ﷻ سره دی:- بیان کولې شی چه الله ﷻ یوازې دې واحددې احد دې فرددې صمد دې.دهغه نه بغیرځوک دعبادت لائق نشته. هغه بې مثاله بې شریك اوبې مثل دې.دهغه څوك شریك نشته څوك ملګرې نشته مشیر نشته وزیر نشته امدادی نشته پشتنی والا نشته. نو بیا ضدکونکې او خلاف ویونکیه ته چرته؟ کوم کوم ته چه چغې وهې اووهه اوګوره معلومه کړه چه د یوې ذرې هم اختیار نه لری. صرف بې وسه بالکل محتاج اوعاجز دی. نه په زمکوکښې د هغوی څه چلیږی نه په آسمانونو کښې لکه چه بل آیت کښې دی ﴿وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ؕ﴾[1] هغوی دکهجورې دیو پوستکی هم مالکان نه دی اوصرف داهم نه چه د دوی خپل اختیاری حکومت نشته بلکه دشرکت په توګه ئې هم نشته. نه الله ﷻ د دوی نه په څه کارکښې امداد اخلی بلکه داټول فقیران اومحتاجان دی. د هغه ددرغلامان اود هغه بندیګان دی.

د الله ﷻ د اجازت نه بغیر هیڅوک هم سفارش نشی کولې:- دهغه عظمت لوئی عزت داسې چه بغیرد هغه داجازت نه د چا هم جراءت نشته دهغه په وړاندې دچادسفارش د پاره شوندې اوخوزوی.لکه چه ارشاد دې ﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ﴾[2] څوك دې؟ چه د هغه په وړاندې د چا شفاعت د هغه د اجازت او رضامندئی نه بغیراوکړې شی. یوبل آیت کښې دی ﴿ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ۝﴾[3] یعنی دآسمانونوټولې فرښتې هم دهغه په وړاندې دچادسفارش دپاره شوندې نه شی خوزولې خوچه د چاد پاره الله ﷻ د خپلې رضامندئی اجازت ورکړی. بل ځای ارشاد دې ﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ۝﴾[4] هغه خلق صرف دهغوی سفارش کولې شی دچادپاره چه دالله ﷻ رضامندی وی. هغوی خو پخپله دالله ﷻ د ویرې نه رڼیږی. د ټول اولاد

---

[1] ۳۵/فاطر:۱۳.
[2] ۲/البقرة:۲۵۵.
[3] ۵۳/النجم:۲۶.
[4] ۲۱/الانبیاء:۲۸.

Scanned with Ca

آدم سردار لوئ شفیع او سفارشی حضرت محمدرسول الله ﷺ هم چه کله د قیامت په ورځ باندې مقام محمود ته تشریف یوسی چه الله ﷻ راشی اودمخلوق فیصلې اوکړی دهغه وخت په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائی زه به د الله ﷻ په وړاندې په سجده کښې پریوځم هم الله ﷻ ته پته ده چه ترکومې به په سجده کښې پروت یم. په دې سجده کښې به د خپل رب دومره تعریفونه بیانوم چه دې وخت کښې هغه الفاظ هم ماته یاد نه دی. بیابه ماته اووئیلې شی ای محمد ﷺ خپل سر اوچت کړه اوخبره کوه ستا خبره به اوریدې شی ته غواړه تاته به درکولې شی. ته شفاعت کوه قبلولې به شی(۱)

درب د عظمت یوبل مقام بیانولې شی چه کله هغه دخپلې وحی کلام کوی اود آسمان مقرب فرښتی دا اوری نود ویرې نه رڅیږی اود بې هوشئ والا په شان کیږی. اوچه کله د هغوی د زړونونه ویره اخوا شی. د (فزع) دویم قراءت (فُرِّعَ) هم راځی. د دواړو مطلب هم یو دې. نو بیادوی په خپل مینځ کښې معلومات کوی دې وخت کښې درب کوم یوحکم نازل شو؟ نود عرش والا خپل ځان سره اوهغوی د خپل ځان سره دغه شان درجه په درجه د رب تعالی حکم رسوی. بې د څه کمی زیاتی نه هم دغه شان ټیک ټیک رسوی.ددې آیت یومطلب داهم بیان شوې دې چه کله دزنکدن وخت راځی هغه وخت مشرکان دا وائی اودغه شان د قیامت په ورځ چه کله د غفلت نه رابیدار شی اوپه هوش کښې راشی نو هغه وخت به داوائی چه ستاسو رب څه اووئیل؟ جواب به ملاؤ شی حق. فرمائی حق ئی اوفرمائیل د کوم څیز نه چه په دنیاکښې بې پرواه وئی نن به د هغه په وړاندې پیش کولې شی. نود زړونونه د ویرې لرې کیدو مطلب دا شو چه کله د سترګونه پرده اوچته کړې شی هغه وخت به ئی ټول شکونه او تکذیبونه جدا شی. نو نه د مرګ د وخت اقرار کول به نفع ورکړی اونه به د قیامت د ورځې د میدان اقرار کول نفع وراورسوی. خود امام ابن جریر رحمه الله په نیز اولنې تفسیر غوره دې یعنی دې نه مراد فرښتې دی. او هم دا ټیک هم دې اوهم د دې تائید د احادیثو اوآثارونه هم کیږی.

په صحیح بخاری کښې د دې آیت په تفسیرکښې په دې موقعه باندې دی کله الله ﷻ د یوامر فیصله په آسمان کښې کوی نو په عاجزئی سره خپلې وزرې ښکته کوی اود رب کلام داسې واقع کیږی لکه د هغه زنځیر کوم چه په کانړی وهلوسره غږیږی.کله چه ویره کمه شی نوتپوس کوی ستاسو رب دې وخت کښې څه اوفرمائیل؟ جواب ملاویږی چه څه ئی اوفرمائیل حق دی اوهغه لوئی اوکبیردې. بعضې څل داسې هم کیږی چه کوم پیریان د فرښتو خبرې اوریدو له پورته تلی دی اوچه د یوبل دپاسه قط په قط ولاړ دی اوهغوی څه کلمه اوری د بره والا د ځان نه ښکته ته اودغه شان وار په وار لاندې یوبل ته اوروی اوهغوی نی دکاهنانوغوږونوته رسوی. هغوی پسې ډیر زرد اُور شغله دهغوی دسوزولو د پاره راټوپ کوی خوکله کله هغه راشی اود دې نه وړاندې وړاندې یو بل ته رسوی او کله د رسولونه وړاندې وړاندې سوزولې شی.کاهن دې یوې کلمې سره سل دروغ یوځائ کړی اوخلقو کښې خوروی. هغه یو خبره رښتاشی اوهغوی ددوی مریدان جوړیږی چه کوره داخبره ددوی دوینا برابره اوشوه.(۲) مسند احمد کښې دی حضوراکرم ﷺ یوځل صحابه کرامو رضی الله عنهم سره ناست وو تشریف ئی ایخودې وو.یوستوری راجداشواویوه زبردسته رنړاوشوه.حضور ﷺ اوفرمائیل دجاهلیت په زما نه کښې ددې ستوری راپریوتو نه څه مطلب وو؟ هغوی وئیل چه مونږ به په دې موقع داکنړل چه یا خو یو ډیر لوئ سړې پیداشو یا مړ شو.دحضرت زهری رحمه الله نه تپوس اوشو آیا د جاهلیت په زمانه کښې به هم ستوری راجوداکیدل. وئیل اوخو ډیرکم اودحضور ﷺ د راتلونه پس خو ډیر زیات شوی دی.حضور ﷺ اوفرمائیل گورئی د دې د چاد

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿لما خلقت بیدی﴾: ۷٤۱۰، صحیح مسلم:۱۹۳.

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الحجرباب قوله﴿الامن استرق السمع فاتبعه شهاب مبین﴾:٤۷۰۱، ابوداؤد: ۳۹۸۹، ترمذی:۳۲۲۳، ابن ماجه: ۱۹٤، ابن حبان:۳٦.

مرګ یا ژوند سره هیڅ تعلق نشته. خبره دا ده چه کله زمونږ رب د یوې خبرې فیصله په اسمانونو کښې کوی اود عرش حاملانې فرښتې دهغه تسبیح بیانوی بیاد اووم آسمان والا بیادشپږم آسمان والا اودغه شان دا تسبیح د دنیاد آسمان پورې رارسی. بیا د عرش سره خواوشاکښې فرښتې دعرش د اوچتونکو فرښتونه تپوس کوی الله ﷻ څه اوفرمائیل؟هغوی دوی ته ښائی اودغه شان هره یوه دښکته والادپورته نه تپوس کوی هغه ئې ورته ښائی تردې چه داول آسمان والاته خبر راورسی.کله اوچتیدونکی پیریان هغه اوری نوپه دوی باندې داستوری راویشتلې شی. کومه خبره چه الله ﷻ ته وررسول منظور وی هغه دوی راواخلی اوهغې سره ډیرباطل اودروغ یوخاې کړی اوپه خلقو کښې مشهوره کړی. (۱)

ابن ابی حاتم کښې دی الله ﷻ چه کله دخپلې وحی امرکوی اوآسمانونه د ویرې نه رچیږی اوفرښتې د ویرې نه په سجده راپریوځی. د ټولونه اول حضرت جبرائیل ﷺ سر اوچتوی اود الله ﷻ فرمان اوری. بیا ئې د هغوی په ژبه نورې فرښتې اوری. اوهغوی وائی چه الله ﷻ حق اوفرمائیل هغه وچت او د لوړې والا دی.تردې چه هغه د الله ﷻ امانتداره فرښته د چاطرف ته چه داوی هغه ته ئې رسوی.دحضرت ابن عباس ﷺ اوقتاده ﷺ نه روایت دی چه دا د هغه وحی ذکر دی کوم چه د حضرت عیسی ﷺ نه پس د نبی نه کیدو په زمانه کښې بنده شوې وه او بیا د شروع نه په ختم المرسلین ﷺ باندې نازله شوه. حقیقت دا دی چه ددې شروع وحی هم په دې آیت کښې داخلیدلوکښې هیڅ شك نشته. خوآیت شامل دې دې ته اودې ټولوته.

قُلْ	مَنْ يَّرْزُقُكُمْ	مِّنَ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ؕ	
ورته اووایه	چې څوك رزق درکوی تاسو ته	داسمانونونه	او دزمکې نه	
(اې پیغمبره) ته تپوس اوکړه چې تاسوته د اسمان او زمکې نه څوك روزی درکوی				
قُلِ	اللّٰهُ ۙ	وَاِنَّآ	اَوْ اِيَّاكُمْ	لَعَلٰى هُدًى
ورته	اووایه چې الله	او مونږه	یا تاسو	ضرور په هدایت باندې یو
ورته اووایه چې الله (روزی درکوی)		او بیشکه مونږ یا تاسو یا خو په سمه لاره روان یو		
اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ				
یا په ګمراهئ				
یا بډ ښکاره				
مُّبِيْنٍ ۝	قُلْ	لَّا تُسْـَٔلُوْنَ	عَمَّآ	
ښکاره کښې یو	ورته اووایه	تپوس به نشی کیدې ستاسو نه	په باره دهغې	
ګمراهئ کښې پراته یو	ته ورته اووایه چې تاسو نه به زمونږ دجرمونو په باره کښې تپوس نه کیږی			
اَجْرَمْنَا	وَلَا نُسْـَٔلُ	عَمَّا		
جرمونو کښې چې کړی وی مونږه	او تپوس به نشی کیدې زمونږ نه	په باره دهغه کارونو کښې		
.....اونه به مونږ نه ستاسو دعملونو (په باره کښې) تپوس کیږی				
تَعْمَلُوْنَ ۝	قُلْ	يَجْمَعُ	بَيْنَنَا	رَبُّنَا
چې تاسو ئې کوي	اووایه	جمع به اوکړی	په منځ زمونږ کښې	رب زمونږ
ته ورته اووایه چې زمونږ رب به ټول راجمع کړی	نو بیا به زمونږ په مینځ کښې سمه روغه			

(۱) صحيح مسلم كتاب السلام باب تحريم الكهانة واتيان الكهان: ۲۲۲۹، ترمذی: ۳۲۲٤، ابن حبان: ٦١٢٩، احمد: ۲۱۸/۱.

بَيْنَنَا	بِالْحَقِّ ط	وَهُوَ	الْفَتَّاحُ	الْعَلِيْمُ ﴿٢٦﴾	قُلْ
په منځ زمونږ کښې	په حقه سره	او هغه	ښه فیصله کونکی دی	ښه عالم دی	اووایه
فیصله اوکړی	اوهغه په فیصله کولو کښې ډیر ښه پوهه دی				ته ورته اووایه
اَرُوْنِيَ	الَّذِيْنَ	اَلْحَقْتُمْ	بِهٖ	شُرَكَآءَ	كَلَّا ط بَلْ
راوښایئ ماته	هغه معبودان	چې پیوست کړی دی تاسو	دهغه سره	شریکان	هرګز نه بلکه
چې ماته خو لږ هغه شریکان اوښائې	چې تاسو دالله ﷻ سره یوځائې کړی دی				، هیڅرې نه
هُوَاللّٰهُ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ ﴿٢٧﴾			
هم دغه الله دی	چې غالب دی	حکیم دی			
بلکه الله ﷻ صرف یو دی	چې ډیر زبردست او دحکمت خاوند دی				

قوله تعالی:- قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط

د الله ﷻ د بعضې صفتونوذکر:- الله ﷻ داخبره ثابتوی چه هم هغه خالق اورازق دی اوصرف هم هغه د الوهیت والادی.لکه څنګه چه ددې خلقودا اقرار دی چه د آسمان نه بارانونه راورونکی اودزمکو نه غله راتګونکې صرف هم الله ﷻ دی. هم داسې دوی له دا هم منل پکاردی چه د عبادت لائق هم صرف هغه دی.

قوله تعالی:- وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ

د مسلمانانو اوکافرانو مینځ کښې لوئې فرق دی:- بیافرمائی چه په مونږ اوتاسو کښې دومره لوئ اختلاف دی نولامحاله یوپه هدایت اوبل په ضلالت دی. دانه شی کیدې چه دواړه فریقه په هدایت باندې وی یا دواړه په ضلالت باندې وی.مونږ موحدیو اود توحید دلائل ښکاره او ډیر واضحه مونږ بیان کړی دی اوتاسو په شرک باندې ئې چه دهغې ستاسو په لاس کښې هیڅ دلیل نشته. نویقیناً مونږ په هدایت باندې یقیناً تاسو په ضلالت باندې ئې.د رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم کافرانو مشرکانوته هم دا وئیلې وو چه په مونږ کښې یوضرور ربښتونې دی ځکه چه د دومره مخالفت او تباین نه پس د دواړو ربښتونی کیدل خوعقلاً هم محال دی[1] د دی آیت یوه معنی داهم بیان کړې شوې ده چه صرف مونږ په هدایت اوتاسو په ضلالت باندې ئې. زمونږ اوستاسو هیڅ تعلق نشته. مونږ تاسو نه او ستاسو اعمالو نه بالکل خلاص یو اوچه په کومه لار مونږ روان یو اوتاسوهم په هغه لار راشئی نو بې شکه تاسو زمونږ ئې اومونږ ستاسو یو ګنی زمونږ اوستاسو په مینځ کښې هیڅ تعلق نشته. یوبل آیت کښې دی که چرې دوی تا دروغ ګنړی نوورته اووایه زما عمل ماسره اوستاسو عمل تاسو سره دی. تاسو زما په عمل چیر کوئی او زه ستاسو د کړو نه ویزاره یم.

سورت ﴿قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝﴾[2] کښې هم ددې بې تعلقئی اوخلاصی ذکردی.رب العالمین به ټول مخلوق دقیامت په میدان کښې راجمع کولوسره ربښتونې فیصلې کوی.نیکانوته به دهغوی بدله او بدانوته د هغوی سزاورکولې شی.په هغه ورځ به تاسوته زمونږ حقانیت اوصداقت معلوم شی.لکه چه ارشاد دی ﴿وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ۝﴾[3] دقیامت په ورځ به ټول جداجداشی.ایمانداربه دجنت باغیچوکښې

---

[1] ع الطبری: ۲۰/۴۰۱.
[2] ۱۰۹/الکافرون:۱. الخ
[3] ۳۰/الروم:۱٤.الخ.

Scanned with Ca

خوشحاله اوفريمانه وی. اوزمونږ اياتونه اود اخرت ورځ دروغ ګڼونکی به د دوزخ په کندو کښې حيران اوپريشان وی. هغه حاکم اوعادل دی. د حقيقت حال نه خبردار دی تاسو داخپل معبودان لږ شان ماته هم اوښائ خود کوم ځای نه به ثبوت ورکړې شئی. سره د دې چه زما رب بې مثاله بې شريک اوعديم المثل دی. هغه يوازې دی هغه دعزت مالک دی. چاچه ټول پخپله قبضه کښې کړی دی اوپه هريوباندې غالب راغلې دی. حکيم دی په خپلو اقوالو اوافعالو کښې. دغه شان شريعت اوپه تقديرکښې هم د برکت والا منزه اود مشرکانود ټولو تهمتونونه جدا دی.

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ	اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ					
	اونه ئې ليږلی مونږ ته				مګر ټولو خلقو ته	
او ائې نبی ﷺ مونږ ته ټولو خلقو						
بَشِيْرًا	وَّنَذِيْرًا	وَّلٰكِنَّ	اَكْثَرَ النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾		
زيری ورکونکی	او يرونکی	وليکن	زيات دخلقو نه	نه پوهيږی		
دپاره (د جنت) زيری ورکونکی او (دعذاب) نه ويرونکی جوړ کړی ليږلی	خو زيات خلق په دې نه پوهيږی					
وَيَقُوْلُوْنَ	مَتٰى	هٰذَا الْوَعْدُ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾	قُلْ	
او وائی دوئ	کله به وی	دا وعده (قيامت)	که يئ تاسو	رښتينی	ورته اووايه	
اودوئ وائی چې دا (دقيامت وعده) به کله پوره کيږی	که چرې تاسو رښتونی يئ	ته ورته				
لَّكُمْ	مِّيْعَادُ يَوْمٍ	لَّا تَسْتَاْخِرُوْنَ	عَنْهُ			
مقرره ده ستاسو دپاره	نيټه ديوې ورځې	چې تاسو روستو والې نشئ کولې	دراتلو دهغې نه			
اووايه چې تاسو سره ديوې داسې ورځې وعده ده	چې نه به ترې يو ساعت روستو					
سَاعَةً	وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع					
يو ساعت	اونه ئې مخکښې راوستلې شئ (يو ساعت)					
کيدېشی اونه به ترې مخکښې کيدېشی						

قوله تعالی:- وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا

پيغمبر ﷺ نذير اوبشيردی :- الله ﷻ خپل بنده اورسول ﷺ ته فرمائی مونږ ته خپل ټول کائنات ته رسول جوړ کړې ليږلی نی. لکه چه بل ځای کښې ارشاد دی ﴿ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۠ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴾[1] يعنی اعلان اوکړه ای خلقو زه ستاسو ټولو طرف ته د الله ﷻ رسول يم. يوبل آيت کښې دی ﴿تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا﴾[2] دبرکت مالک دی هغه الله چاچه په خپل بنده باندې قرآن نازل کړو دی دپاره چه هغه ټول جهان هوښيار کړی. دلته نی هم اوفرمائيل چه اطاعت کونکوته د جنت زيری ورکړه اونامنونکوته د دوزخ. خواکثر خلق دخپل جهالت په وجه درسول الله ﷺ نبوت نه منی. لکه چه ارشاددی ﴿ وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴾[3] که ته هر څومره غواړې خواکثر خلق به بې ايمانه وی. بل

---

[1]) ۷/الاعراف:۱۵۸.
[2]) ۲۵/الفرقان:۱.
[3]) ۱۲/يوسف:۱۰۳.

Scanned with Ca

خائ ارشاد دي که د لوئ ډلې اومنې نوهغوی پخپله هم تاد نیغې لارې نه اخواکړی.د رسول الله ﷺ رسالت دعاموخلقو طرف ته وو.د عربواوعجموتولوطرف ته.الله ﷻ ته د ټولو نه زیات ګران هغه دي چه د ټولونه زیات د هغه د فرمان تابعداروی. (۱)

درسول کریم ﷺ بهتری په ټولو انسانانو ده: ابن عباس ﷺ فرمائی الله ﷻ حضرت محمد ﷺ ته په آسمانونووالاباندې اوپه نبیانوباندې غوره والې ورکړې دي.خلقو ددې دلیل معلوم کړو نوحضور ﷺ اوفرمائیل ګورئی قرآن فرمائی چه هریورسول ئی خپل قوم ته د هغوی په ژبه کښې اولیګلو دي دپاره چه هغه په دوی کښې ښه په کولاو باندې تبلیغ اوکړی اودحضوراکرم ﷺ متعلق فرمانی چه مونږ ته دعامو خلقو طرف ته رسول جوړکړی لیګلې.په بخاری اومسلم شریف کښې درسول مقبول ﷺ ارشادمبارک دي ماته پنځه صفتونه داسې راکړې شوی دی چه مانه وړاندې یو نبی ته هم نه دی ورکړې شوی.دپوره میاشت په فاصله باندې زما امدادصرف په رعب سره کړې شوې دي. زما د پاره ټوله زمکه جمات اوپاکه ګرځولې شوې ده.زما په امت کښې چه په چاباندې په کوم ځائ کښې دمانخه وخت راشی هغه دې هم هغه ځائ کښې مونځ اوکړی. زمانه وړاندې د یونبی دپاره دغنیمت مال حلال نه وو ګرځولې شوې. زما دپاره غنیمتونه حال کړې شو.ماته شفاعت راکړې شو.هرنبی صرف دخپل قوم طرف ته لیګلې شواوزه دټولوعامو خلقوطرف ته لیګلې شوې یم.یعنی پیریانو انسانانو عربو او عجمو طرف ته. (۲)

قوله تعالی:- وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ

د منکرینو د قیامت سوال اودهغې جواب:- بیاد کافرانودقیامت محال کیدل بیانوی.تپوس کوی چه قیامت به کله راځی؟لکه چه بل ځائ ارشاددې بې ایمانه د دې دپاره تندی کوی اوایماندارددې دویرې نه رڅیږی.اوداحق ګنړی. الخ. جواب ورکوی چه ستاسو د پاره د وعدې ورځ مقرره شوې ده. په کوم کښې چه وړاندیوالې روستووالې کمې زیاتې ناممکن دي.لکه ﴿إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ ۖ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (۳) نورنی اوفرمائیل ﴿وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَعْدُودٍ﴾ (۴) یعنی هغه مقررشوې وخت روستوکیږی نه. تاسو ته د دغه مقرر وخت پورې وخت دي کله چه هغه ورځ راغله بیابه څوک شونډې هم اونه خوزولې شی. په هغه ورځ به بعضې نیک بخت وی اوبعضې بدبخت.

وَقَالَ الَّذِينَ	كَفَرُوا
اووائی هغه کسان	چی کافران دی
اودا کافران وائی چې	
لَن نُّؤْمِنَ	بِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ وَلَوْ تَرَىٰ
هرګز مونږ نه منو	دا قرآن او نه هغه کتاب اچی مخکښی ددې نه دی اوکاش چی ته اووینې
مونږ به هیڅکله په دې قرآن باندې ایمان نه راوړو	اونه په هغه کتاب چې ددې نه وړاندې نازل شوی وو

---

۱) الطبری: ۲۰/۴۰۵.

۲) صحیح بخاری کتاب التیمم باب نمبر:۱، حدیث:۳۳۵و صحیح مسلم:۵۲۱، احمد:۵/۱۴۵.

۳) ۷۱/نوح:٤.

۴) ۱۱/هود:۱۱٤.

Scanned with Ca

اِذِ الظّٰلِمُوْنَ	مَوْقُوْفُوْنَ	عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ	يَرْجِعُ	بَعْضُهُمْ
کله چې داظالمان خلق اودرولې شوی وی	په دربار درب خپل کښې	واپس کوی به	خپښی دهغوئ	
اوکه ته هغه وخت اوګورې چې څه وخت دا ظالمان به خپل رب ته مخامخ اودرولې شی اپه یو بل باندې				
اِلٰى بَعْضِ	الْقَوْلَ ۚ	يَقُوْلُ	الَّذِيْنَ	اسْتُضْعِفُوْا	لِلَّذِيْنَ
خپښی نوروته اخبره (داسې چې)	وائی به	هغه کسان	چې کمزورې ګنړلې شوی وؤ	هغه کسانوته	
به الزامونه لګوی	.....کمزورې خلق به غټانو خلقو ته دا وائی چې				
اسْتَكْبَرُوْا	لَوْلَآ اَنْتُمْ	لَكُنَّا	مُؤْمِنِيْنَ ۝	قَالَ
چې ځان ئې غټ ګنړلې وؤ	که چرې نه وې تاسو	نو خامخا وؤ به مونږ	مومنان	اوبه وائی
که تاسو موجود نه وئ	نومونږ به ایمان راوړې وې	نو غټان به کمزورو		
الَّذِيْنَ	اسْتَكْبَرُوْا	لِلَّذِيْنَ	اسْتُضْعِفُوْٓا	اَنَحْنُ
هغه کسان	چې ځان ئې غټ ګنړلې وؤ	هغه کسانوته	چې کمزورې ګنړلې شوی وؤ	آیا مونږه
ته جواب ورکړی	چې ایا تاسو مونږ دهدایت قبلولو نه منع کړی وئ	څه وخت چې هدایت		
صَدَدْنٰكُمْ	عَنِ الْهُدٰى	بَعْدَ	اِذْ جَآءَكُمْ	بَلْ كُنْتُمْ
منع کړی وئ تاسو	دهدایت نه	روستو دهغې نه	چې راغلې وؤ تاسو ته	بلکه وئ تاسو
تاسو ته راغلې وو ؟	بلکه تاسو په خپله قصور کړې وو			
مُّجْرِمِيْنَ ۝	وَقَالَ الَّذِيْنَ	اسْتُضْعِفُوْا	لِلَّذِيْنَ
مجرمان	اواوبه وائی هغه کسان	چې کمزورې ګنړلې شوی وؤ	هغه کسانوته
او کمزورې خلق به دغه غټانو ته اووائی چې (داخو) ستاسو			
اسْتَكْبَرُوْا	بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ	وَالنَّهَارِ	اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ
چې ځان ئې غټ ګنړلې وؤ	بلکه مکرونه دشپې وؤ	او دورځې وؤ	چې تاسو به حکم کوؤ مونږ ته
دسبا بیګاه مکرونو مونږ منع کړی وو	چې تاسو به راته هروخت ویناګانې کولې		
اَنْ نَّكْفُرَ	بِاللّٰهِ	وَنَجْعَلَ	لَهٗٓ	اَنْدَادًا ؕ	وَاَسَرُّوا
چې مونږه کفر اوکړو	دالله سره	او جوړ کړو	هغه لره	شریک	او پټه به کړی دوئ
چې مونږ دالله ﷻ نه انکار اوکړو	اوهغه دا چې هغه لره شریکان جوړ کړو	او			
النَّدَامَةَ	لَمَّا	رَاَوُا	الْعَذَابَ ؕ	وَجَعَلْنَا	الْاَغْلٰلَ	فِيْٓ اَعْنَاقِ
ښېیمانتیا	هر کله چې	اووینی دوئ	عذاب	اووابه چوؤ مونږه	پټئ	په څټونو کښې
چې عذاب اووینی نو خپله پښیمانی به پټوی	.....اومونږ به دهغوخلقو په غاړه کښې طوقونه					

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا ؕ	هَلْ يُجْزَوْنَ	اِلَّا مَا	كَانُوْا
دهغه کسانو	چې کفر ئې کړې دې	نه به ورکړې کیږی بدله	مګر دهغه عمل	چې ووُ دوئ
واچوؤ	اکومو چې کفر کړې دې	دوئ ته به هم دهغه عملونوسزا ملاویږی	کوم چې ئې کړې وی	
يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾				
چې کوؤ به ئې				
وو				

قوله تعالی:- وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ

د کافرانو نه منل اوسرکشی:- دکافرانودسرکشئی اودباطل دضدبیان کولې شی چه هغوی فیصله کړې ده که د قرآن پاك دحقانیت په زړګونودلیلونه اووینی خومنی به ئی نه.بلکه ددې نه په وړاندې کتاب هم ایمان نه راوړی.دوی له به د خپلې وینا مزه هغه وخت راشی چه کله دالله ﷻ په وړاندې ددوزخ په غاړه په ولاړه ولاړه مشران کشرانوته اوکشران مشرانو ته الزامونه ورکوی اوهریوبه بل قصوروار ګڼړی. تابعداران به خپلوسردارانوته وائی که تاسومونږ نه رامنع کولو نومونږ به خامخا ایمان راوړلې وو.د هغوی مشران به هغوی له جواب ورکوی چه آیا مونږ تاسو رامنع کړې وئی؟مونږ یوه خبره اوکړه تاسو ته پته وه چه دابې دلیله خبره ده.

بل طرف ته د دلیلونوباران په تاسو راوریدو اوستاسو دسترګو په وړاندې وو بیا تاسو د هغه تابعداری پریخوده زمونږه مو ولې منل؟ ستاسو خپله بې عقلی وه اوستاسو پخپله شهوت خوښ وو.ستاسو خپل زړونه دالله ﷻ دخبرونه تختیدل.درسولانوتابعداری پخپله ستاسو په ځانونواوطبیعتونوباندې ګرانه او سخته تیریده.ټول قصور هم ستاسو خپل وو مونږ ته ولې الزام راکوئی؟دابې دلیله دخپلوبزرګانو منونکی به بیاجواب ورکړی چه شپه ورځ ستاسودهوکه بازی جعل سازی مکرفریب مونږ ته تسلی راکړه چه زمونږ افعال اوعقیدې ټیك دی.مونږ ته باربارکفراوشرك نه پریخودل زوړدین نه بدلول د پلارانونیکونو په زړو طریقو قایم اودریدل اوزمونږ ملا ټپول همدغه سبب شوزمونږد ایمان نه د بندیدلوهم تاسوبه راتلئی اوددروغو عقلی خبرې به موراته کولې اوداسلام نه به مواړول.دواړه الزامونه به هم ورکوی اوصفائی به هم کوی خوپه زړه کښې په خپلو کړو باندې پښیمانه وو.

قوله تعالی:- وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

د دې ټولولاسونه به ستې سره په طوق اوزنځیر سره اوترلې شی.اوس به هریوته د هغه د اعمالو مطابق بدله ورکولې شی. ګمراه کونکوته هم اوګمراه کړې شووته هم. هریوته به پوره پوره عذاب ورکولې شی. رسول الله ﷺ فرمائی چه کله دوزخیان د دوزخ د رسولود پاره اوشړلې شی نوددوزخ د یوې لمبې په وجه به دهغوی دبدن ټوله غوښه اوسوزی او پښو کښې به ئی راپریوځی.

ابن ابی حاتم کښې حسن بن یحیی نعشی رحمه الله فرمائی چه د دوزخ په هره یوه قیدخانه کښې هریوغر اوهریوزنځیر په هریوقیدباندې به د دوزخی نوم لیکلې وی.کله چه د سلیمان دارانی رحمه الله په وړاندې دا بیان کړه نو هغوی ډیر خفه شو او وئی فرمائیل هائې هائې بیابه څنګه حال وی په هغه باندې چه دا ټول عذابونه پرې اچولې شوی وی. په پښوکښې بیړئی وی په لاسونوکښې هتکړئی په ستې کښې طوق وی بیا د دوزخ غارته وردیکه کړې شی. الله ﷻ دې مونږ ټول کړی اومونږ دې الله سلامت اوساتی.اللهم سلم اللهم سلم.

Scanned with Ca

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ

| اونۀ دې لیږلې مونږه | په یوکلی کښې | څوك یرونکې | مګر | اووئیل

| اومونږ چې کوم کلی ته هم یو پیغمبر لیږلې دې | نود هغې کلی

مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ

مالدارو خلقو دهغه کلی | بیشکه مونږه | په هغه پیغام سره | چې رالیږلی شوی یې تاسو

مالدارو به وئیل | ..... چې تاسو کوم حکمونو راوړی دی مونږ د هغې نه

بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا

په هغې سره | نۀ منونکی یو | اواوونیل هغوئ | مونږه | زیات یو | په لحاظ دمال سره

انکار کوو | ..... اوهغوئ دا هم وئیلی دی | چې مونږ د مال او اولاد په لحاظ سره ستاسو

وَّاَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۳۵﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ

اواولاد سره | اونۀ یو مونږه | عذابیدونکی | ورته اووایه | بیشکه رب زما | فراښه کوی

نه پیر زیات یو | اومونږ ته به هیڅ عذاب نشی راکولې | ته ورته اووایه چې زما رب

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

رزق | دپاره دهغه چا | چې غواړی هغه | او په اندازه کوی رزق | ولیکن | زیات دخلقو نه

دچا باره کښې اوغواړی | نو روزی ورته فراخه کړی | یا (روزی) ورته تنګه کړی | خوزیات خلق په دې

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ

نه پوهیږی په حقیقت | اونۀ دی مالونه ستاسو | اونۀ اولاد ستاسو | داسې څیز |

خبره نه پوهیږی | او ستاسو دا مالونه او اولاد تاسو زمونږ په دربار کښې

تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ

چې نزدې کوی تاسو | مونږ ته | په نزدیکت سره | ماسوا | دهغه چانه | چې ایمان ئې راوړو

نزدې کولې نشی | .....البته هغه خلق چې ایمان راوړی | او هغوئ نیک

وَعَمِلَ صَالِحًا ۡ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ

او عمل ئې اوکړو نیك | پس دا خلق دي | چې ده دپاره ددوئ | بدله | ددوچندوالی |

عمل هم اوکړی | نو هغوئ ته بۀ دخپل عمل دوچنده بدله ورکولې شی

بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ فِي الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾

په سبب دهغې عملونو | چې کړی دی دوئ | او دوئ به | په دنګو مانړو کښې | په امن سره وسی

اوهغوئ به د جنت په بالاخانو کښې په امن سره اوسیږی |

وَالَّذِيْنَ	يَسْعَوْنَ	فِيْٓ اٰيٰتِنَا	مُعٰجِزِيْنَ
او هغه کسان	چې کوشش کوی	په آیتونو زمونږ کښې	دپاره دعاجزه کولو (دآیتونو زمونږ)
او کوم خلق چې زمونږ دآیاتونو د ناکامه کولو کوشش کوی			

اُولٰٓئِكَ	فِي الْعَذَابِ	مُحْضَرُوْنَ ۝	قُلْ	اِنَّ رَبِّيْ	يَبْسُطُ الرِّزْقَ
دا کسان به	په عذاب کښې	حاضر کړې شوی وی	اورته اووایه	ببیشکه رب زما	فراښه کوی رزق
نوهغوی به عذاب ته ورمخامخ کړې شی		.....	ورته اووایه چې زما رب		په خپلو بندګانو کښې

لِمَنْ	يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ	وَيَقْدِرُ	لَهٗ ؕ	وَمَآ
دپاره دهغه چا	چې غواړی	دبندګانو خپلو نه	او په اندازه کوی رزق	دپاره دهغه	او هغه
چې دچا دپاره اوغواړی روزی فراخه کوی		اوچا دپاره چې اوغواړی نو روزی تنګوی			او څه چې

اَنْفَقْتُمْ	مِّنْ شَيْءٍ	فَهُوَ	يُخْلِفُهٗ ۚ	وَهُوَ	خَيْرُ
چې خرچ کوئ تاسو	څه څیز	پس هغه	دهغې په خاني نور درکوی	او هغه	بهتره
دالله ﷻ په لار کښې خرچ کوئ		نوهغه به دهغې بدله درکوی		او هغه ډیر ښه روزی	

الرّٰزِقِيْنَ ۝
رزق ورکونکي دي
ورکونکي دي

قوله تعالى:- وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ

رسول الله ﷺ ته تسلی ورکول:- الله ﷻ خپل نبی پاك ﷺ ته تسلی ورکوی اود وړاندینو پیغمبرانو په شان اخلاق ساتلود پاره ورته فرمائی چه کوم یوکلی ته کوم یورسول تلې دې دهغه مقابله شوې ده. لویوخلقو کفرکړې اوغریبانانوتابعداری کړې ده. لکه چه دنوح ﷺ قوم خپل نبی ته وئیلې وو ﴿ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ۝ ﴾[1] مونږ په تاباندې څنګه ایمان راوړوستامنونکی خو ټول د ښکته درجې خلق دی. هم دا مضمون په دویم آیت ﴿ وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ۝ ﴾[2] کښې دي. دصالح ﷺ د قوم کبرژن خلق ضعیفانوته وائی ﴿ اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلَ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝ ﴾[3] آیاتاسو د حضرت صالح ﷺ د نبی کیدو یقین دې؟ هغوی وئیل اومونږ خومؤمنان یو نو هغه کبرژنوصفا اووئیل چه مونږ خوئی نه پیژنو. یوبل آیت کښې دی ﴿ وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنْۢ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ۝ ﴾[4] یعنی دغه شان مونږ یو په بل سره فتنه کښې واچولو دې د پاره چه هغوی اووائی چه هم داخلق دی په چاباندې چه الله ﷻ په مونږ تولوکښې احسان اوکړوالله ﷻ شکرکونکی نه پیژنی؟یوبل ارشاد دې چه په هریوکلی کښې دهغې غټان خلق مجرم اومکار وی. یوبل

---

[1]) ٢٦/الشعراء:١١١.
[2]) ١١/هود:٢٧.
[3]) ٧/الاعراف:٧٥.
[4]) ٦/الانعام:٥٣.

Scanned with Ca

ارشاد دي ﴿وَإِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا﴾ (۱) کله چه دیوکلی مونږ د هلاکت اراده اوکړونو دهغې سرکشه خلقو ته څه احکام ورکوو هغوی نې نه منی بیائی مونږ هلاک کړو. نودلته هم فرمائی چه مونږ کوم یوکلی ته نبی اورسول لیګلې د هغه ځائ شان اوشوکت والا مالداران او سرداران اولویو خلقو ډیر زر د خپل کفر اعلان کړي دي.

هره زمانه کښې د نبی تابعدران کمزوری خلق وی:- ابن ابی حاتم کښې دی ابورزین ﷺ فرمائی دوه کسان په خپل مینځ کښې شریك وو یود سمندر نه اخوا لاړو اوبل هم هلته پاتې شو. کله چه د رسول الله ﷺ بعثت اوشو نوهغه خپل ملګری نه په لیکلو سره معلومه کړه چه د حضور ﷺ څه حال دي؟ هغه په جواب کښې اولیکل چه ښکته اوپریوتې خلق دهغه خبره منی. شریفانو قریشودهغه اطاعت نه دي کړې. هغه خط لوستلوسره هغه خپل تجارت اومعاملات پریخودل او زر خپل شریك له راغلو دا لیك لوست والا سړي وو. دآسمانی کتابونو په علم پوهیدلو. دهغه نه ئې تپوس اوکړواوښایه رسول الله ﷺ چرته دي؟ معلومه ئې کړه اودحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشو. د حضور ﷺ نه ئې تپوس اوکړو تاسو خلق د کوم خیزطرف ته رابلنی حضور ﷺ ارکان اسلام دهغه په وړاندې بیان کړل هغه زر ایمان راوړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه تاددي تصدیق ولې اوکړو؟ هغه ونیل په دې خبره چه د ټولوانبیاوٴکرامو د شروع په زمانه کښې همیشه ضعیفان اومسکینان خلق په هغوی باندې ایمان راوړونکی وی. په دې باندې دا آیاتونه نازل شو حضور ﷺ هغه پسې سړې اولیکلو اوورته ئې اووئیل چه ستاد خبرې صداقت الله ﷻ نازل کړو.

هرقل هم دابوسفیان نه دغه شان سوال کړې وو:- دغه شان هرقل ونیلې کله چه هغوی د ابوسفیان نه د هغوی د جاهلیت د زمانې متعلق تپوس کړې ووچه آیاشریفانوخلقودهغه تابعداری کړې که ضعیفانو؟ نوابوسفیان جواب ورکړې وو چه ضعیفانو. په دې باندې هرقل ونیلې وو چه د هررسول اول تابعداری کونکی هم دغه ضعیفان خلق وی. (۲)

قوله تعالی:- ﴿وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا﴾

بیافرمائی چه دا خوشحاله خلق په خپل مال او اولادباندې فخرکوی اودا دلیل جوړوی د دې خبرې چه هغوی د رب خوښ دی. که د الله ﷻ خاص پرزونې او مهربانئی په هغوی باندې نه وې نودوی ته به ئې دا نعمتونه نه ورکول. اوچه کله دلته رب مهربان دې نو په آخرت کښې به هم هغه مهربان وی. قرآن پاك هرځائ د دې ردکړې دي.

یوبل ځائ ارشاد دي ﴿أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ﴾ (۳) آیادهغوی داخیال دې چه دمال اولاد کثرت د هغوی دپاره بهتردی؟ نه بلکه دا خرابوالي دي خوهغوی بې عقله دی. یوبل آیت کښې دی ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ﴾ (۴) دهغوی مال اولاددې تا په دهوکه کښې وانچوی. پدې سره به د هغوی په دنیاکښې هم سزا کولې شی اوترمرګه پورې به هم دوی په کفرباندې وی. یوبل آیت دې ﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا﴾ (۵) یعنی ما او هغه سړې پریږدئی کوم چه ما پیداکړې دي یوازې اوپه کثرت سره مې مال ورکړې دې اوتابعدار ځامن مې ورکړی دی اوهغه ته مې هر قسم عیش ورکړې او هغه دا طمع ده چه زه هغه ته نورهم زیات ورکړم. داسې نه ده دې زمونږ د

---

(۱) ۱۷/الاسراء:۱۶.

(۲) صحیح بخاری کتاب بدء الوحی باب کیف کان بدء الوحی الی رسول الله ﷺ:۷، صحیح مسلم:۱۷۷۳.

(۳) ۲۳/المؤمنون:۵۵.

(۴) ۹/التوبه:۸۵.

(۵) ۷۴/المدثر:۱۱.الخ

Scanned with Ca

ایاتونو مخالف دي لږه زمانه پاتي ده چه دي به زه د دوزخ په غرونوباندي ورخیژوم. د هغه سړی واقعه هم ذکر شوي ده د چاچه دوه باغونه وو دمال والا وو اوداولاد والا وو خویوځیز هم فائده ورنه کړه. د الله ﷻ په عذاب سره ټول هر څه هم په دنیاکښې تباه کړي شو او توري خاوري شو.

مال او اولاد نه بلکه ایمان او عمل د کامیابی نخښه ده:- الله ﷻ چه د چارزق زیاتول غواړی نو زیاتوی اوالله ﷻ چه دچارزق کمول غواړی نوکموی.دنیاخوهغه خپلو دوستانواودښمنانوټولوته ورکوی. غنی یا فقیر کیدل دهغه درضااونارضادلیل نه دي بلکه پدي کښې نورحکمتونه وی کوم چه اکثرخلق نه پیژني. مال اولادورکول زمونږدپرزوني دلیل جوړول غلط دی.داڅه زمونږپه نیزدمرتبه زیاتولوځیزنه دي. رسول الله ﷺ فرمائی چه الله ﷻ ستاسو صورتونواوشکلونوته نه ګوری بلکه زړونواو عملونوته ګوری. (۱)

اود هغه په نیزباندي درجواوچتولوځیز ایمان او نیك عمل دي. د هغوی د نیکو په بدله کښې به هغوی له ډیري زیاتي بدلي ورکولې شی.یوه یوه نیکی به لس لس چنده بلکه اووه سوه کولې شی.دجنت په اوچتو منزلونواو درجوکښې به دهري ویري خفګان غم نه به په امن کښې وی.هیڅ غم تکلیف به نه وی او نه به څه سزا او صدمه وی. رسول الله ﷺ فرمائی په جنت کښې به داسې بالاخانې وی دکوم ظاهرچه به دباطن نه اوباطن دظاهر نه ښکاری. یواعرابی وئیل دابالاخانې د چاد پاره دی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه څوك نرمې خبرې کوی په نورو بندي خوراك کوی او په کثرت سره روژې ساتی اود خلقو د خوب په وخت کښې تهجد کوی. (۲)

کوم خلق چه د الله ﷻ د لاري نه نور خلق منع کوی د رسول الله ﷺ د تابعدارئی نه خلق منع کوی اود الله ﷻ دآیاتونوتصدیق ته نی نه پریږدی هغوی به د دوزخ سزاګانوکښې حاضرولې شی خرابه بدله به ورکوی.بیا فرمائی چه الله ﷻ دخپل کامل حکمت مطابق چاته چه غواړی ډیره زیاته دنیاورکوی اوچاله چه غواړی ډیره کمه ورکوی. دي په آرم دي اوهغه په غم دردکښې اخته دي. د رب حکمتونو باندي هیڅ څوك نه پوهیږی دهغه مصلحتونه هم هغه ښه پیژني.لکه چه فرمائی ﴿اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا۝﴾ (۳) ته ګوره چه مونږ څنګه یوله په بل باندي فضیلت ورکړي دي اوآخرت په درجو کښې اوفضیلتونوکښې ډیرلوئ دي.لکه څنګه چه مالداری اوغریبی سره ددرجوښکته والي پورته والي دلته دي دغه شان به په آخرت کښې هم د اعمالومطابق هم درجې اومرتبې وی.نیکان خلق به دجنت په اوچتوبالاخانوکښې اوبدان خلق به ددوزخ په ښکته طبقه اوجیل خانوکښې وی.په دنیا کښې دټولونه بهتر سړي درسول الله ﷺ د فرمان مطابق هغه دي چه ربنتونې مسلمان وی او په اندازه د کفایت رزق وررسی اود الله ﷻ د طرف نه ورته صبرهم ورکړي شوي وی. (۴)

قوله تعالی:- وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ۚ

دانفاق فی سبیل الله فضیلت:- دالله ﷻ دحکم یادهغه د اباحت لاندي کوم څه چه خرچ کوني دهغې بدله به هغه تاسو له په دواړه جهانه درکوی. په صحیح حدیث کښې دی ته خرچ کوه نوپه تاباندي به هم خرچ اوکړي شی.یوبل حدیث کښې دی چه هرسحریوه فرښته دعاکوی اي الله ﷻ دبخیل مال ختم اوبرباد کړي.دویمه دعاکوی اي الله ﷻ خرچ کونکی له نیکه بدله ورکړه (۵) حضرت بلال ﷺ ته حضور اکرم ﷺ

---

(۱) صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب تحریم ظلم المسلم وخذله.....:۲۵٦٤.

(۲) ترمذی کتاب صفة الجنة باب ماجاء فی صفة غرف اهل الجنة:۲۵۲۷وهوحسن، ابن ابی شیبه:۲٦٥/۸، مسندابی یعلی:٤۲۸. (ابن ابی حاتم)

(۳) ۱۷/الاسراء:۲۱.

(۴) صحیح مسلم کتاب الزکاة باب فی الکفاف والقناعة:۱۰۵٤، ترمذی:۲۳٤۸، ابن ماجه: ٤۱۳۸، احمد: ۱٦۸/۲

(۵) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب قوله تعالی ﴿فامامن اعطی واتقی...﴾:۱٤٤۲، صحیح مسلم:۱۰۱۰.

Scanned with Ca

یوخل اوفرمائیل ای بلال خرچ کوه او عرش والا د طرف نه د تنکنی خیال هم مه کوه(۱) ابن ابی حاتم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی ستاسود دې زمانې نه پس داسې زمانه راتلونکې ده چه پرې کونکې خورونکې ده.مال به وی خو مالدار به په خپل مال باندې داسې غابنونه ورخښ کړې وی چه چرته خرچ نه شی.بیا حضوراکرم ﷺ د دې آیت ﴿ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ (۲) تلاوت اوکړو.

بد ترین خلق:- بل حدیث شریف کښې دی بدترین خلق هغه دی چه د بې وسه او بې قراره خلقو څیزونه په کم قیمت باندې اخلی ګرځی یادساتنی داسې بیع حرام ده.دبې قراره بیع حرام ده.مسلمان د مسلمان رور دی نه دې هغه باندې ظلم کوی اونه دې هغه رسواکوی. که تانه کیدې شی نونورو خلقو سره ښه سلوک او ښیګړه کوه د هغه هلاکت ته مه زیاتوه. داحدیث په دې سندسره غریب دې اوضعیف هم دې. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه د دې آیت غلط مطلب وانخلئی په خپل مال کښې په میانه روئی سره خرچ کوه. روزئی تقسیم شوی دی رزق مقسوم دې.

وَيَوْمَ	يَحْشُرُهُمْ	جَمِيعًا	ثُمَّ	
او په کومه ورځ	چې به راجمع کړي هغه دا انسانان	ټول	بیا	
.....او په کومه ورځ چې الله ﷻ دوئ ټول راجمع کړی				.....نود
يَقُولُ	لِلْمَلَٰٓئِكَةِ	أَهَٰٓؤُلَآءِ	إِيَّاكُمْ	كَانُوا	يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾
به اووائی	فرښتو ته	ایا دا خلق ووٛ	چې تاسو لره به ئې	عبادت کولو	
فرښتو نه بهٔ تپوس اوکړی	چې ایا دې خلقو بهٔ ستاسو عبادت کولو				
قَالُوا	سُبْحَٰنَكَ	أَنتَ وَلِيُّنَا	مِن دُونِهِم ۖ	بَلْ كَانُوا	
اوبه وائی فرښتې	پاکی ده تالره	تهٔ مولی ئې زمونږ	بې ددوئ نه	بلکه ووٛ دوئ	
هغوئ به اووائی چې (ائې زمونږ ربه) ته پاک یئ	زمونږ تعلق خو تاسره دې	دوئ سره نه دې			
يَعْبُدُونَ	ٱلْجِنَّ ۖ	أَكْثَرُهُم	بِهِم		
چې عبادت به ئې کووٛ	دپیریانو شیطانانو	زیات خلق ددوئ	په دې پیریانو شیطانانو باندې		
حقیقت دادې	چې دوئ خو بهٔ د پیرانو عبادت کولو	په دوئ کښې زیاتو خلقو په پیریانو			
مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾	فَٱلْيَوْمَ	لَا يَمْلِكُ	بَعْضُكُمْ		
ایمان راوړونکی ووٛ	(اوبهٔ فرمائی الله) پس نن ورځ به	اختیار نهٔ لری	خپنی ستاسو		
ایمان لرلو	.....نو نن تاسو کښې څوک یو بل ته دنفع یا				
لِبَعْضٍ	نَّفْعًا	وَلَا ضَرًّا ۚ	وَنَقُولُ	لِلَّذِينَ	ظَلَمُوا
دپاره دځینو	دنفعې رسولو	اونهٔ دضرر رسولو	اواوبه وایو مونږ	هغه کسانوته	اچې ظلم ئې کړی وی
نقصان رسولو قدرت نه لری	.....او مونږ به ظالمانو ته اووایو	چې			

(۱) طبرانی: ۱۰۲۰.
(۲) ۳٤/سبا:۳۹.

Scanned with Ca

ذُوقُوا	عَذَابَ النَّارِ	الَّتِي	كُنتُم	بِهَا	تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾
اوځکئ	عذاب دوور	هغه	چې وئ تاسو	په هغې	چې دروغ به مو ګڼرلو
ددې اور دعذاب مزه اوځکئ	کوم چې به تاسو دروغ ګڼرلو				

قوله تعالى:- ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ

د الله ﷻ دفرشتو سوال: مشرکان شرمنده کول بې جوابه کولو اوبې عذره کولودپاره به دفربښتونه سوال کولې شی دکوموچه دځان نه دوی شکلونه جوړکړې وواودې مشرکانوبه په دنیاکښې دهغوی عبادت کولوچه هغوی به دوی الله ﷻسره ملاوکړی.سوال به کولې شی چه آیاتاسودوی ته دخپل عبادت کولو وئیلې وو؟لکه چه په سورت فرقان کښې دی﴿ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰٓؤُلَآءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ ﴿١٧﴾ ﴾[1]یعنی آیا تاسودوی ګمراه کړې وو؟ که دوی پخپله دهوکه شوې وو؟دحضرت عیسی ﷺ نه به سوال کولې شی چه آیا تا دې خلقو ته وئیلی وو راغلې وې چه الله ﷻ پریږدئی زما اوزما د مور عبادت کوئی.هغه به جواب ورکړی ای الله ستا ذات پاك دې ماته چه د کوم څیز وینا کول ضروری نه وو مابه څنګه وئیل. دغه شان به فربښتې هم خپل ځان خلاص کړی وائی به ته خو د دې نه ډیراوچت او لوئ ئی چه ستادې څوك شریك وی مونږ خو پخپله ستا بندیګان یو. مونږ د دوی نه ویزاره وو اواوس هم دوی نه جدایو.دوی به دشیطانانوعبادت کولوهم شیطانانود دوی دپاره بتانوعبادت ښائسته کړې وو او دوی ئی ګمراه کړې وو. په دوی کښې د اکثرو عقیده هم په شیطان باندې وه.

لکه څنګه چه د الله ﷻ ارشاد دې﴿ إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثًا ۖ وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَٰنًا مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ اللَّهُ ۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿١١٨﴾ ﴾[2]یعنی دې خلقوالله تعالی پریخې دې اود ښځوعبادت کوی اودسرکش شیطان عبادت کوی.په کوم چه د الله ﷻ غصه ده.نوچه کومو کومو سره ای مشرکانوتاسو مینه ساتلې وه په هغوی کښې یوهم تاسوته څه نفع دراونه رسولې شوه. ددې سختنی اوعذاب په وخت کښې به داتول د دروغومعبودان تاسونه یودم لرې شی.ځکه چه هغوی ته دچاته دځه څیزد نفع ورکولو هیڅ اختیارد سره وونه.نن به مونږ پخپله مشرکانوته وایوچه واخلئی کوم ددوزخ عذاب مودروغ ګڼرلونن دهغې مزه اوځکئ.

وَإِذَا تُتْلَىٰ	عَلَيْهِمْ	آيَاتُنَا	بَيِّنَاتٍ	قَالُوا	مَا هَٰذَا
او کله چې لوستلې کیږی	په دې خلقو باندې	ایتونه زمونږ	صفا واضحه	نو وائی دوئ	نه دې دا
او هرکله چې به دوئ ته زمونږ ښکاره ایتونه بیانولی شو				نو دوئ به وئیل چې دا(پیغمبر)	
إِلَّا	رَجُلٌ	يُرِيدُ	أَن يَصُدَّكُمْ	عَمَّا	كَانَ يَعْبُدُ
مګر	یو سړې دې	چې غواړی	چې منع کړی تاسو	دهغه معبودانونه	چې عبادت به ئې کولو
خو یو داسې سړې دې	چې تاسو دهغه بتانو نه منع کوی		دکومو چې به ستاسو پلار نیکه		
آبَاؤُكُمْ ۚ	وَقَالُوا	مَا هَٰذَا	إِلَّآ	إِفْكٌ	مُّفْتَرًى ۚ	وَقَالَ
پلارانو ستاسو	اووائی دوئ	نه دې (داقرآن)	مګر	دروغ دی	دځانه نه جوړ کړې شوی	اووائی
عبادت کولو	او دوی وائی چې داقرآن خو جوړ شوې دروغ دی			اوځه وخت چې کافرانوته		

[1] ٢٥/الفرقان:١٧.
[2] ٤/النساء: ١١٧-١١٨.

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِلْحَقِّ	لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا
هغه کسان	چې کافران شوی دی	حق ته	هر کله چې راغې دوئ ته	چې نه دې دا	مګر
حق راغلو	.....زنوهغوی اووئیل چې دا خو ښکاره				
سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝	وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ	مِّنْ كُتُبٍ	يَّدْرُسُوْنَهَا		
جادو دي	ښکاره	اونۀ دی ورکړی مونږ دوئ له	څه کتابونه	چې ګنی لولی هغه	
جادو دي	او مونږ دوئ ته داسې (آسمانی الهامی) کتابونه نه وو ورکړی اچې ګنی دوئ بۀ لوستل				
وَمَآ اَرْسَلْنَآ	اِلَيْهِمْ	قَبْلَكَ	مِنْ نَّذِيْرٍ ۝ ط	وَكَذَّبَ	الَّذِيْنَ
اونۀ وؤ لیږلي مونږ	دوئ ته	مخکښې ستانه	څوک یرونکي	او دروغ ګنړلي ووؤ	هغه کسانو
او مونږ ستاسونه ورانديې دوئ ته هیڅ ویرونکي نه وو لیږلي	او (دغسې) ددوئ نه مخکنو خلقو				
مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ	وَمَا بَلَغُوْا	مِعْشَارَ	مَآ	اٰتَيْنٰهُمْ	
چې مخکښې ددوئ نه ووؤ	اونۀ دی رسیدلی دوئ	السمې برخې ته	ادهغې	اچې ورکړی ووؤ	مونږ هغوئ ته
هم (پیغمبران) دروغژن ګنړلی وو	او مونږ چې هغوئ ته څه ورکړی وو	هغوی دهغې لسمه برخه			
فَكَذَّبُوْا	رُسُلِيْ ۫	فَكَيْفَ	كَانَ	نَكِيْرِ ۝ ع	
پس دروغ اوګنړل هغوئ	رسولان زما	پس څه رنګې	ووؤ	عذاب زما	
هم نه دی	اخو هغوئ زما پیغمبران دروغ اوګنړل	انو زما دطرفنه پرې څنګه عذاب راغلو			

قوله تعالی:- وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

د قرآن پاک د منکرینو د خباثتونو ذکر او دهغوئ انجام :- دکافرانوهغه شیطاني بیانیږی د کوم په وجه چه هغوی درب دعذابونو مستحق شوی دی. دالله ﷻ کلام تازه په تازه دهغوی غوره رسول ﷺ په ژبه اوری قبلول منل اوددې مطابق عمل کول خویوطرف ته وائی چه ګورئی داسې تاسودخپل زوړ اوربښتونی دین نه منع کوی اودخپلو باطلوخیالونوطرف ته تاسو راغواړی. داقرآن پاک خو ده پخپله جوړکړې دی اودخپل خان نه ئی بیانوی اوداخو جادو دی اود دې جادو څه پته خبره نه ده بالکل ښکاره دې. بیا فرمانی چه نه خودې عربوته اول څه کتاب نازل شوې دې اونه دحضوراکرم ﷺ نه دوی ته څوک رسول راغلې دې. پدې وجه د دوی دمودو خواهش وو که مونږ کښې څوک رسول د الله ﷻ راغلې وواوپه مونږ باندې د الله ﷻ کتاب نازل شوی وی نومونږ به د ټولونه زیات تابعدار اوپابند وو. خوچه کله الله ﷻ د دوی دزړه دا ارمان پوره کړونولګیاشو په انکاراوتکذیب کښې. ددې نه د وراندینوامتونونتیجې د هغوی مخې ته دی. هغوی په قوت اوطاقت مال اومتاع کښې اوپه دنیاوی اسبابوکښې د دوی نه ډیر زیات وو. اودوی خولااوس دهغوی لسمې حصې ته هم نه دی رسیدلی. خوزما د عذابونو په وخت کښې ئی نه مال په کاراغلو اونه خاندانونه اونسبونه په کارراغله نه هغه قوت اوطاقت هغوی ته څه فائده ورکړه بربادکړې شو.

لکه چه ارشاد دې ﴿ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۫ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝﴾[1] یعنی مونږ هغوی ته قوت اوطاقت

[1] ۴۶/الاحقاف:۲۶.

Scanned with Ca

ورکړي وو سترګې اوغوږونه ئې هم لرل زړه ئې هم وو خوزماپه ایاتونوباندې دانکارپه وجه په هغوی چه کوم عذاب راغلو هغه وخت هیڅ ځیز هیڅ فائده ورنه کړه اوچاپوري چه به ئې توقې کولې هم هغوی دوی راګیرکړل.آیاداخلق په زمکه ګرځیدوسره دوړاندینوخلقوانجام ته نه ګوري چه ددوی نه په شمیر کښې زیات اوپه طاقت کښې وړاندې وو.مطلب دادې چه د رسولانوپه تکذیب کولوسره دوی اوړه کړې شو د جړې نه راویستلې شواوغورزولې شو.ته ګوره اوغوراوکړه چه ماڅنګه د خپلو رسولانو نصرت اوامداد اوکړواوڅنګه مې په تکذیب کونکوباندې عذاب راکوزکړو.

قُلْ اِنَّمَآ	اَعِظُكُمْ	بِوَاحِدَةٍ ۚ	اَنْ تَقُوْمُوْا
ورته اووایه بیشکه همدا خبره ده | چې زهٔ نصیحت کوم تاسو ته | په یوې خبرې سره | چې ودریږئ تاسو			
(ائې پیغمبره) اووایه چې زهٔ درته د یوې خبرې نصیحت کوم | هغه دا چې تاسو خاص دالله ﷻ دپاره دوه دوه			
لِلّٰهِ	مَثْنٰى	وَفُرَادٰى	ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۗ	مَا بِصَاحِبِكُمْ
خاص دپاره دالله | دوه دوه | او یویو | بیا فکر اوکړئ | نشته په ملګرې ستاسو باندې				
او یو یو اودریږئ | بیافکر اوکړئی ستاسو دا ملګرې (پیغمبر یقیناً) لیونې نه دې				
مِّنْ جِنَّةٍ ؕ	اِنْ هُوَ	اِلَّا	نَذِيْرٌ	لَّكُمْ	بَيْنَ يَدَيْ	عَذَابٍ
څه لیونتوب | نهٔ دې هغه | مګر | خبردارونکې | تاسو لره | مخکښې (دراتلو) | دعذاب						
.....دې خو ستاسو دپاره دسخت عذاب راتلونه وړاندې ویرونکې دې						
شَدِيْدٍ ۝						
سخت نه |						

قوله تعالی:- قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ

پیغمبر ﷺ مجنون نه دې :-حکم کولې شی چه کافران تاته مجنون وائی دوی ته اووایه چه یوکارخو اوکړئی چه په خلوص سره دښمنی اوضدپریږدئی اولږ شان پخپل مینځ کښې سوچ اوکړئی یوبل نه معلومات اوکړئی چه آیا محمد ﷺ مجنون دې؟اوپه ایماندارنی سره یوبل ته جواب ورکړئی. هرسړې دې خان خان سره هم سوچ اوکړی اویوبل نه دې هم تپوس اوکړی خوداشرط دې چه ضد اودښمنی پریږدئی. تاسوته به پخپله پته اولګی اوستاسو زړه به آواز اوکړی چه په حقیقت کښې رسول الله ﷺ ته جنون نشته بلکه هغه پخپله ستاسو خیر خواه اودرد منددې. د یوراتلونکې خطرې نه د کومې نه چه تاسوې خبره ئې تاسو خبروی.

قوله تعالی:- اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى

ددې نه مونځ مراد اخستل صحیح نه دی:-بعضې خلقو د دې آیت نه ځان له اوپه جمع سره مونځ کول مراد اخستې دې اوددې په ثبوت کښې یوحدیث شریف هم پیش کړې دې.خوهغه حدیث ضعیف دې چه حضور ﷺ فرمائیلی دی ماله درې ځیزونه راکړې شوی دی چه مانه اول نه دی ورکړې شوی اودا زه د فخرپه وجه نه وایم. زماد پاره د غنیمت مال حلال کړې شوې دې مانه وړاندې هغه د چادپاره هم حلال نه وو.هغوی به دغنیمت مال راجمع کولواوسیزلوبه نی. اوزه د هریو سور اوسپین طرف ته لیګلې شوې یم هریونبی هم دخپل قوم طرف ته لیګلې کیدو.زماد پاره ټوله زمکه جمات اود اودس ځیز جوړکړې شوې دې چه زه ددې په خاوره تیمم کوم اوکوم ځائ کښې چه هم یم اودمانځه وخت راغلو نومونځ اداکړم. الله ﷻ فرمانی چه دالله ﷻ په وړاندې په ادب سره اودریږه. دوه دوه یویواو دیوې میاشتې په

فاصله باندې زما نصرت په رعب سره کړې شوې دې. (۱) داحدیث سنداً ضعیف دې اودیرممکن دی چه پدې کښې دآیت ذکراو دا د جمع نه یاځان له کولوپه معنی کښې اخستې شوې وی. دا د راوی خپل قول وی اوداسې بیان کړې شوې وی چه په ظاهره هغه د حدیث الفاظ معلومیږی ځکه چه د حضورﷺ خصوصیات په صحیح سند د احادیثو ډیر روایت دی اوپه یوکښې هم دا الفاظ نشته. والله اعلم.

قوله تعالی:- اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ

رسول کریم ﷺ نذیر وو ددې متعلق احادیث:- خلق د هغه عذاب نه ویرونکې ووکوم چه د هغوی مخې ته دې اودکوم چه دوی بالکل بې خبره اوبې فکره ناست دی.په صحیح بخاری شریف کښې دی نبی اکرمﷺ یوځل په صفاغونډئی باندې اوختلو اودعربود دستورمطابق یاصباحاه وئیلوسره داوچت آواز چه کوم علامت وو لکه چه څوک د یواهمې خبرې د پاره راغواړی.دعادت مطابق دې اوریدو سره ټول خلق راجمع شو.حضورﷺ اوفرمائیل واورئی که زه تاسوته اووایم چه ستاسو دښمن په تاسو باندې حمله کول غواړی اوعجیبه نه ده چه سحریامابنام په تاسو باندې حمله اوکړی نوتاسوبه مارښتونې اوکنړئی؟ ټولو په یوځل جواب ورکړو او بې شکه مونږ به تا رښتونې اوګنړو. حضورﷺ اوفرمائیل واورئی زه تاسو د هغه عذاب نه

ویرول غواړم کوم چه ستاسو په وړاندې دې. دې اوریدو سره ابولهب ملعون وئیل ستا لاسونه دې مات شې تا مونږ د دې دپاره راجمع کړې یو. په دې باندې سورت ﴿تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ﴾ (۲) الخ نازل شو (۳) دا احادیث ﴿وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ﴾ (۴) په تفسیرکښې تیرشوی دی.

د رسول کریم ﷺ اود امت مثال:- مسند احمدکښې دی رسول اللهﷺ راووتلواومونږله نی تشریف راوړدې ځل نی آواز اوکړو. وئی فرمائیل خلقوزماواو خپل مثال پیژنئی؟هغوی وئیل اللهﷺ ته اودهغه رسولﷺ ته پوره علم دې. رسول اللهﷺ اوفرمائیل زما اوستاسو مثال د هغه قوم په شان دې په کوم باندې چه دښمن حمله کونکې وو. هغوی خپل سړې اولیګلو چه لارشه او دښمن اوګوره اود هغوی د تګ راتګ نه مونږ خبرکړه. هغه چه کله اوکتل چه دښمن دهغوی طرف ته راروان دې او نیزدې رسیدلی دې نوهغه په ټولوخپل قوم طرف ته راوړاندې شو چه هسې نه زماد خبرورکولونه وړاندې د دښمن حمله اونه شی. په دې وجه هغه هم په لارکښې خپله کپړا خوزول شروع کړه چه هوښیار شئی دښمن راورسیدو.دې ځل نی دا اووئیل(۵)یوبل حدیث کښې دی چه زه اوقیامت په یوځائ رالیګلې شوې یو.نیزدې وه چه قیامت مانه وړاندې راغلې وو. (۶)

قُلْ	مَا سَاَلْتُكُمْ	مِّنْ اَجْرٍ	فَهُوَ لَكُمْ
ورته اووایه	هغه چې ماغوښتلی وی ستاسو نه	څه اجر	پس هغه دستاسو وی
ته ورته اووایه چې که ما ستاسو نه څه معاوضه غوښتې وی			نو هغه ستاسو شوه

---

۱) ابن ابی حاتم.
۲) ۱۱۱/اللهب:۱.
۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة سبا باب ﴿ان هوالانذیرلکم بین یدی عذاب شدید﴾: ۴۸۰۱، صحیح مسلم:۲۰۸.
۴) ۲۶/الشعراء:۲۱۴.
۵) احمد:۲۴۸/۵وسنده حسن، مجمع الزوائد:۳۱۴/۱۰.
۶) احمد:۲۴۸/۵وسنده حسن، مجمع الزوائد:۳۱۴/۱۰.

Scanned with C

اِنۡ اَجۡرِیَ اِلَّا عَلَی اللّٰہِ ۚ وَہُوَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ شَہِیۡدٌ ﴿۴۷﴾ قُلۡ
نۀ دی اجر زما | مګر | په الله باندې دی | او هغه | په هر څیز باندې | ګواه دی | ورته اووایه
زما اجر خو بس صرف دالله ﷻ سره دی | او هغه په هر څه باندې پوره خبر دی
اِنَّ رَبِّیۡ یَقۡذِفُ بِالۡحَقِّ ۚ عَلَّامُ الۡغُیُوۡبِ ﴿۴۸﴾
بیشکه رب زما | را اچوی په زړه کښې ماته | حق | هغه ښه عالم دی | په پټو حقیقتونو باندې
ته ورته اووایه چې زمارب همیشه حق ته غلبه ورکوی | دغیبو په خبرو ډیر ښه عالم دی
قُلۡ جَآءَ الۡحَقُّ وَمَا یُبۡدِئُ الۡبَاطِلُ وَمَا یُعِیۡدُ ﴿۴۹﴾
ورته اووایه | چې راغې | حق | اونۀ دنوی سره پیدا کولې شی څه څیز | باطل | اونۀ نې دوباره پیدا کولې شی
ورته اووایه چې اوس حق راورسیدو | اوباطل نه وړاندې څه څیزوو | اونه اوس څه حیثیت لری
قُلۡ اِنۡ ضَلَلۡتُ فَاِنَّمَاۤ اَضِلُّ عَلٰی نَفۡسِیۡ ۚ
ورته اووایه | که زۀ بې لارې شوې یم | نو پس بیشکه | وبال دبې لارې کیدو زما | په خان زما دی
ورته اووایه چې که زۀ ګمراه یم | نو د هغې وبال به صرف په ما باندې واقع کیږی
وَاِنِ اہۡتَدَیۡتُ فَبِمَا یُوۡحِیۡۤ اِلَیَّ رَبِّیۡ ؕ اِنَّہٗ
او که زۀ په سمه لار یم نو دا به وی | په سبب دهغې | چې وحی کوی | ماته | رب زما | بیشکه هغه
اوکه زه په نیغه لار روان یم | نو دادهغه وحی په وجه روان یم | اکومه چې ما ته زما رب کړې ده | هغه
سَمِیۡعٌ قَرِیۡبٌ ﴿۵۰﴾
هر څه اوریدونکی | نزدې دی |
هرڅۀ اوری ډیر نزدې دی |

قوله تعالی:- قُلۡ مَا سَاَلۡتُکُمۡ مِّنۡ اَجۡرٍ فَہُوَ لَکُمۡ ؕ

پیغمبر ﷺ د انسانیت محسن دی :حکم کولې شی چه مشرکانوته اووایه دا زه چه ستاسو خیرخواهی کوم تاسوته د دین احکام دررسوم، وعظ اونصیحت کوم په دی باندې زه تاسو نه هیڅ بدله نه غواړم. بدله خوبه هم الله ﷻ راکوی چه د تولوڅیزنو دحقیقت نه خبردارۍ. زماۀاوستاسو حالت هغه ته ښه معلوم دی بیانی چه دا اوفرمائیل ددی په شان آیت ﴿ یُلۡقِی الرُّوۡحَ مِنۡ اَمۡرِہٖ عَلٰی مَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِہٖ لِیُنۡذِرَ یَوۡمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾ ﴾[1] الخ. یعنی الله ﷻ پخپل فرمان سره دحضرت جبرائیل ﷺ په ذریعه چه چاته ئې خوښه وی وحی لیږی. هغه په حق سره فرښته نازلوی اوعلام الغیوب دی د هغه نه دآسمان اوزمکې هیڅ یوڅیزپټ نه دی. د الله ﷻ دطرف نه حق اومبارک شریك راغلې دی. باطل اوبه خراب اولندې بوچې شی برباد به شی لکه چه ارشاد دی ﴿بَلۡ نَقۡذِفُ بِالۡحَقِّ عَلَی الۡبَاطِلِ فَیَدۡمَغُہٗ فَاِذَا ہُوَ زَاہِقٌ ؕ وَلَکُمُ الۡوَیۡلُ مِمَّا تَصِفُوۡنَ ﴿۱۸﴾ ﴾[2] مونږ په باطل باندې حق نازلولو سره باطل ټکړې کوو اوهغه خاورې کوو. رسول الله ﷺ دمکې دفتح په ورځ کله په بیت الله شریف کښې داخل شو نودهغه خای بتان به ئې د خپلې لیندې په لرګی سره راغورزول او په ژبه مبارکه

---

[1] ٤٠/غافر:١٥.

[2] ٢١/الانبياء:١٨.

به نی وئیل ﴿ وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۚ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴾[1] حق راغلو باطل ختم شو اوهغه وو د ختمیدو دپاره ([2])دباطل او ناحق دباوړ ټول ښکته شو. د بعضې مفسرینونه روایت دې چه دلته د باطل نه مراد ابلیس دې. یعنی هغه نه څوک اول پیداکړی نه به ئی بیاراپیداکړې شی نه مړی ژوندی کولې شی اونه هغه ته بل داسې څه قدرت حاصل دې. خبره خودا هم صحیح ده ولې دلته دامطلب نه دې. والله اعلم. بیاچه دااوفرمائیلي شو د دې مطلب دادې چه خیر ټول په ټول هم دالله ﷻ د طرف نه دې اودالله ﷻ په رالیږلي شوی وحی کښې دې. هم هغه سراسرحق بیان دې اوهدایت دې. گمراه کیدونکی پخپله ورانیږی اوهم خپل نقصان کوی. د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه چه کله د مفوضه د مسئله تپوس کړې شوې وو نوهغوی فرمائیلي وو دا زه په خپله رائې سره بیانوم. که صحیح وی نود الله ﷻ د طرف نه ده اوکه غلط نو زما اود شیطان د طرف نه دې اوالله تعالی اود هغه رسول ﷺ دې نه بری دې. ([3]) هغه الله ﷻ دخپلو بندیګانو خبرې اوریدونکې دې اونیزدې دې اود آواز کونکی آواز هروخت اوری اوقبلوی. د صحیح په حدیث کښې دی رسول الله ﷺ یوځل خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته اوفرمائیل تاسو چرته کوئ یا غائب ته آواز نه کوئی چاته چه تاسو آواز کوئی هغه اوریدونکې دې نیزدې دې او مجیب دې.([4])

وَلَوْ تَرَىٰ	إِذْ	فَزِعُوا	فَلَا فَوْتَ
او کاش چې اوویني تۀ اکله چې اویریږی دوئ			اونۀ به وی لاردبچ کیدو
او که ته دوی هغه وخت اوویني چې دوئ به ویریدلی وی			نو خلاصیدې به نشی
وَأُخِذُوا	مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾		وَقَالُوا آمَنَّا
او نیولي کیږی به	دځائي نزدې نه		اوا وبه وائی په هغه وخت کښې اچې ایمان راوړو مونږ
اود نزدې نه به رانیولي شی	.....	او دابۀ وائی چې (بس) مونږ به دې دین	
بِهِ ۚ	وَأَنَّىٰ لَهُمُ	التَّنَاوُشُ	مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾
په دې باندې او څرنګ به وی	دوی لره	نیول	دځائي لرې نه
ایمان راوړو	خو اوس ددومره لرې ځائې نه د دوئ لاس چرته ورسیدې شی؟		
وَقَدْ كَفَرُوا	بِهِ	مِن قَبْلُ ۚ	وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ
او کفر کړې وو دوئ	په دې سره	مخکښې ددې نه	اوویشتل به کول دوئ په غیبو سره
حال دادې چې دوئ ترې د وړاندې نه انکار کولو	.....		اودوئ د لرې نه بې لیدو
مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾	وَحِيلَ	بَيْنَهُمْ	وَبَيْنَ مَا
دځائي لرې نه	او پرده به واچولي شی	په منځ ددوئ کښې	او په منځ دهغه څیز کښې
خیالي غشی ویشتل	اوددوئ اوددوئ د خواهشاتو په مینځ کښې به یو دیوال اودرولې شی		

[1]) ۱۷/بنی اسرائیل:۸۱.

[2])صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة بنی اسرائیل باب﴿وقل جاء الحق وزهق الباطل﴾، ۴۷۲۰، صحیح مسلم:۱۷۸۱، ترمذی: ۳۱۳۸

[3]) ابوداؤد کتاب النکاح باب فیمن تزوج ولم یسم لها صداقا حتی مات:۲۱۱۶وهو صحیح، نسائی:۳۳۶۰.

[4])صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة خیبر:۴۲۰۲، صحیح مسلم:۲۷۰۴، احمد:۴۰۲/۴، ابوداؤد:۱۵۲۷

يَشْتَهُوْنَ	كَمَا	فُعِلَ	بِاَشْيَاعِهِمْ	مِّنْ قَبْلُ ؕ
چې آرزوني کوی دوئ | لکه څنګه چې | شوې وو(داکار) | دملګرو ددوئ سره | مخکښې ددې نه				
لکه څنګه چې ددې نه وړاندې ددوئ غوندې خلقو سره شوې وو | او هغوئ هم				

اِنَّهُمْ	كَانُوْا	فِيْ شَكٍّ	مُّرِيْبٍ ۝
بیشکه دوئ | ووٛ | په داسې شک کښې | چې پریشانه کونکی وو			
ددوئ پشان ښکاره شک کښې پراته وو			

قوله تعالی:- وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا فَلَا فَوْتَ

دقیامت په ورځ به تیښتې پښیمانتیا او اقرار هیڅ نفع نه ورکوی:- الله ﷻ فرمائی ای نبی ﷺ کاش چه تا د دې کافرانودقیامت د ورځې هغه ویریدل لیدلې چه هرڅومره دعذابونونه خلاصیدل غواړی خود بچ کیدوبه هیڅ یوصورت نه بیامومی.نه په تختیدوسره اونه په پتیدوسره نه د چا په حمایت سره اونه د چا په پناه سره بلکه ډیرزر به راونیولې شی. دیخواد قبرونونه راووتل اوبل خواراګیرکړې شو.اخواودریدل اودیخوا راګیر کړې شو.خوصحیح هم دادی چه دقیامت دورځې عذاب دې. بعضې وائی چه دبنوعباس د خلافت په وخت کښې دمکې اومدینې په مینځ کښې دهغوی د لښکروپه زمکه کښې دورځنبیدل مراد دې.ابن جریر رحمه الله دې بیانولوسره ددې په دلیل کښې یوحدیث نقل کړېدې چه بالکل موضوع اود خان نه جوړشوې دې.خو په تعجب باندې تعجب کیږی چه امام صاحب دا موضوع نه دې بیان کړې. د قیامت په ورځ به وائی چه مونږ ایمان قبلوو. په الله ﷻ باندې اود هغه په فرښتوباندې د هغه په کتابونو باندې اودهغه په رسولانوباندې ایمان راوړو. لکه چه بل آیت کښې دی ﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ۝﴾[1] کاش چه تالیدل ګناهګاران خلق دخپل رب په وړاندې سرونه ښکته کړې ولاړوی اوپه شرمندګئی سره وائی ای الله مونږ اولیدل مونږ واوریدل مونږ ته یقین راغلو.اوس ته مونږ بیادنیاته اولیګه نومونږ به ئې دزړه نه اومنو.لکه څنګه چه د ډیر لرې څیز داخستلودپاره دلرې نه لاس راوړاندې کړی اوهغه د ده لاس له نه شی راتلې.همدغه شان حال د دې خلقو دې په آخرت کښې هغه کارکول غواړی کوم چه په دنیاکښې کول پکاروو نوپه آخرت کښې هغه ایمان راوړل بې کاره دی.اوس به نه دنیاته راواپس کولې شی اونه به د هغه وخت ژړا فریاد اوزاری توبه ویستل او فریادونه کول ایمان اواسلام هیڅ په کار نه راځی.ددې نه وړاندې په دنیاکښې خو منکر وئی نه موالله ﷻ منلو اونه مو په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړو نه د قیامت قائل شوئی اوهسې چه په نالیدلو اندازې سره نبښې اولی.دغه شان دالله ﷻ خبرې په خپلو ګمانونوسره ردکولې.نبی ته نې کله کاهن وئیل کله شاعرکله جادوګراوکله مجنون او دا صرف دځان نه فضول خبرې وې. اوس په ایمان او د هغوی په مینځ کښې پرده راغله. په توبه کښې اوپه هغوی کښې پرده راپریوتله. دنیادوی نه پاتې شوه اودوی د دنیا نه جداشو. ابن ابی حاتم په دې مقام کښې عجیبه او حیرانونکې اثر نقل کړې دې کوم چه مونږ پوره نقل کوو.

دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې په بنی اسرائیلوکښې یو فاتح سړې وو چاسره چه ډیرمال ووکله چه هغه وفات شو اودهغه ځوئ د هغه وارث شو نوډیرپه خرابه طریقه باندې مال الوزولو.دهغه ترونو هغه ملامته کړو او پوهه نې کړو هغه په غصه کښې راغلوټول څیزونه نې خرڅ کړل او روپې راواخستې

---

[1] ۳۲/السجدة:۱۲.

Scanned with Ca

عین ځجاجه له راغلو یومحل ئی جوړکړو اوهم دلته اوسیدلو.یوه ورځ په زوره سیلئی راغله په هغې کښې یوه ډیره ښائسته او ښکلې ښځه هغه له راغله. هغه د دې نه تپوس اوکړو ته څوك ئی؟ هغې وئیل بنی اسرائیلی یم. وئیل دامحل اومال ستا دې؟هغه وئیل او.تپوس ئی اوکړو ستا ښځه هم شته؟ هغه وئیل نه.هغې وئیل ته بیاد خپل ژوندخوندځنګه اوچتوې؟ اوس هغه تپوس اوکړو چه آیا ستا خاوندشته؟هغې وئیل نه. وئیل بیا خو ما قبول کړه.هغې جواب ورکړو چه زه ددې خائ نه دیومیل په فاصله باندې اوسیږم صباته دخان سره د ټولې ورځې خوراك څښاك راواخله ما کره راشه.که په لار کښې څه عجائبات اووینې نو ویرپږه مه. هغه قبوله کړه او بله ورځ ئی توښه واخسته روان شو.یومیل لرې چه لاړونویوښکلې عالی شان محل ئی اولیدلو.ورټکولوسره یوښکلې ځوان راغلو تپوس ئی اوکړو ته څوك ئی؟ جواب ئی ورکړوبنواسرائیلی یم. وئیل څنګه راغلې ئی؟ وئیل د دې مکان مالکې رابللې یم. وئیل په لار کښې دې څه خطرناك ځیزونه اولیدل؟ جواب ئی ورکړو او که چرې ماته دا نه وو وئیلې شوی چه ویرپږه مه نوزه خو به د ویرې نه هلاك شوې ووم. زه لاړم یوې پلنې لار ته اورسیدم چه اومې کتل یوسپنی ځله کولاوکړې ناسته وه زه اوویریدلم اومنډه مې کړه چه اومې کتل هغه زما نه وړاندې وړاندې ده.هغه ده اودهغې بچی دهغې په خیټه کښې غاپی.هغه ځوان وئیل ته دانه شې موندلې. دا خو تاته د آخری زمانې د یوخبرې مثال اوخودلې شو چه یوځوان به د بوډاګانوپه مجلس کښې ګینی او هغوی سره به د خپل راز پټې خبرې کوی. چه زه نور وراوړاندې شوم نواومې کتل چه یوسل چیلئی دی دکومو غلانځې چه د پښیونه ډکې دې یوبچې دې چه پښی څکی چه کله پښی ختم شی هغه ته پته اولګی چه نور څه باقی پاتې نه شو نوهغه ځله کولاوکړی لکه چه نور غواړی.دې ځوان دربان وئیل ته داهم نه شې حاصلولې.دامثال تاته اوخودلې شو ډهغه بادشاهانو چه په آخره زمانه کښې به راځی د خلقو نه به سره زراوسپین زرراکاږی تردې چه پوهه به شی چه اوس چاسره هیڅ هم پاتې نه شو نوبیا به هم هغوی ظلم اوزیاتې کوی ځلې به ئی کولاوکړې وی.هغه وئیل چه زه نور وړاندې شوم نوماوکتل یوه ونه ده ډیره تکه ښنه اوتازه ښکلې رنګ ښکلې شکل مادهغې یوښاخ راماتول غوښتلنودبلبونې نه آوازراغلو ای دالله ﷻ بنده زما ښاخ مات کړه.بیاخود هرې یوې ونې نه هم داآواز راتلو دربان وئیل ته داهم نه شې حاصلولې. په دې کښې اشاره ده چه په آخره زمانه کښې به د سړو کمې وی اود ښځوکثرت به وی. تر دې چه د یوسړی د طرف نه به یوې ښځې ته پیغام لیګلې شی نولس شل ښځې به هغه خپل طرف ته رابلی.هغه وئیل زه لږ نور وړاندې شوم نو ما اوکتل چه دیودریاب په غاړه یوسړې ولاړدې اوخلقو له اوبه رادکوی اوورکوی بیا پخپل مشك کښې اچوی. خوپه دې کښې یوځاځکې هم نه حصاریږی. دربان وئیل ته په دې هم نه پوهیږی. په دې کښې مثال دې چه په آخر زمانه کښې به داسې علماء اووعظ کونکی وی چه خلقوته به علم ښائی ښکلې خبرې به کوی ولې پخپله به عمل نه کوی بلکه پخپله به په ګناهونوکښې اخته وی.بیاچه وړاندې شوم نو مایوه چیلئی اوکتله بعضې خلقوددې پښې نیولې وې بعضو لکئی نیولې وه بعضو ښکرې نیولې وې بعضې په دې باندې سواره دی اوبعضې د دې پښی لښی. هغه وئیل دامثال دې د دنیاکومو چه د دې پښې نیولې دی هغه دی چه د دنیانه پریوتل خو دا ورته ملاونه شوه. کومو چه ښکرې نیولې دی داهغه دی چه خپله ګذاره کوی خو په سختئی سره. کومو چه لکئی نیولې ده داهغه دی د چانه چه دنیا تختیدلې ده. سواره هغه دی چه دنیائی پخپله پریخودې ده اوددنیا نه صحیح فائده اوچتونکی دی.کوم چه تا د چیلئی نه پټې راویستونکی اولیدل دوی ته خوشحالی ده دا دمبارکئی مستحق دی.هغه وئیل چه زه نور وړاندې شوم نواومې کتل چه یوسړې د کوهی نه اوبه راوباسی اوپه یوحوض کښې وراچوی. د کوم حوض نه چه اوبه واپس کوهی ته ځی.هغه وئیل داهغه سړې دې چه عمل کوی خو قبلیږی نه. هغه وئیل زه بیا وړاندې لاړم اومې کتل یوسړې دانې په پټې کښې اوکرلې هم هغه وخت فصل تیارشو اوډیر ښکلې مزیدار غنم راوتل. وئیل داهغه

Scanned with Ca

سړي دي چه د چانيکښي الله ﷻ قبلوی. هغه وئيل چه زه نور وړاندي شوم نو يوسړي پرمخي پروت دي ماته ئی وئيل روره زما لاس اونيسه ماکيښوه. والله د کله نه چه زه پيداکړي شوي يم ناست نه يم. زما په لاس نيولوسره هغه اودريدو او تيز په منډه شو تردي چه زما د سترګونه پناه شو. دي دربان وئيل دا ستا عمر وو چه لاړو ختم شو. زه ملك الموت يم اود کومي ښځي سره چه ته ملاويدو له راغلي نی د هغې په شکل کښې هم زه ووم. د الله ﷻ په حکم سره تاله راغلي ووم چه ستا روح په دغه ځای کښې قبض کړم اوبيا تا دوزخ ته اورسوم د دې باره کښې دا آيت ﴿ وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِمْ مِنْ قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُرِيبٍ ﴾[1] نازل شوی. دااثر غريب دي اوددي په صحت کښې هم نظر دي. د آيت مطلب ښکاره دي د کافرانوچه کله مرګ راځی. دهغوی روح ددنياد ژوند په مزوکښې اينښتې وی. خو مرګ ورته مهلت نه ورکوی اود هغوی د خواهش او دهغوی په مينځ کښې دا حائل شی. لکه څنګه چه د دې مغرور اومفتون سړی حال شو چه لاړود ښځې په لټون کښې اوملاقات ئی اوشو ملك الموت سره چه اميد ئی پوره شی د هغې نه وړاندې نی روح لاړو. بيافرمائی چه د دوی نه وړاندې امتونوسره هم داسې اوشو هغوی هم د مرګ په وخت کښې د ژونداوايمان آرزو کوله چه صرف يوبې کاره څيز وو. لکه چه ارشاد باری تعالی دي ﴿ فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِ مُشْرِكِينَ ﴾[2] کله چه هغوی زمونږ عذابونه اوکتل نووئی وئيل مونږ په الله ﷻ چه واحد دي ايمان راوړو اوکوم کوم چه مونږ د الله ﷻ شريکان جوړ کړي وو دهغه ټولونه مونږ انکار کوو. خودهغه وخت ايمان هغوی ته هيڅ فائده ورنه کړه. دهغوی نه وړاندې خلقوکښې هم د الله ﷻ هم دغه طريقه روانه وه. کافران د نفع نه محروم پاتې شو. دلته فرمائی چه په دنياکښې خو په ټول ژندکښې په شك شبه اوترددکښې پاتې وو. پدې وجه دعذاب د ليدلونه پس ايمان راوړل بيکاره شو. دحضرت قتاده رحمه الله داقول دسروزرو په اوبود ليکلوقابل دي چه هغوی فرمائی د شکونواوشبهاتونه بيخ شئی په دې باندې چه چاته مرګ راغلو هغه به د قيامت په ورځ په دې باندې اوچتولې شی. اوځوك چه په يقين باندې مړشو نوهم په دې يقين باندې به راوچتولې شی.

والله سبحانه وتعالى الموفق للصواب.

د الله ﷻ په فضل اوکرم سره د هغه په لطف اورحم سره د سورت سباتفسيرختم شو.

تقبل الله منا وقضى الله حاجاتنا.

.....

ایاتونه	سورة فاطر مكية وهي خمس واربعون اية وخمس ركوعات		رکوع ګانې
ایاتونه	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ		رکوعات
۴۵	شروع کوم په نوم د الله چه ډير مهربان زيات رحم کونکي دي		۵

اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	فَاطِرِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	جَاعِلِ
ټوله ثنا | خاص الله لره ده | چې پيدا کونکي دي |			داسمانونو |	او دزمکي |	مقررونکي دي |
ټول تعريفونه صرف يو الله ﷻ دپاره دی | ..... چې د اسمانونو او زمکي پيدا کونکي دي					

---

[1] ٣٤/سبا:٥٤.

[2] ٤٠/المؤمن:٨٤.

Scanned with Ca

الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ؕ يَزِيْدُ
دفرښتو	پيغام رسونکي	خاوندانې	دوزرو	دوو	دريو	او څلورو دی	زياتوالې کوی
او فرښتې نې خپلې پيغام رسونکي جوړ کړې اچې دوه دوه او دري دري او څلور څلور وزرې نې دی	د چا
فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝
په پيدا وښت دمخلوق کښې	هغه چې خوښه نې شی	بيشکه الله	په هر څيز باندې	قادر دي
په پيدائش کښې چې اوغواړی نور زياتوی	..... بيشکه الله ﷻ په هرڅه قادر دي
مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ
هغه چې پرانيزی	الله	دپاره دخلقو	درحمت نه	پس نۀ وی بندونکې هيڅوک	هغې لره
الله ﷻ چې خلقو ته د رحمت (دروازه) پرانيزی	نو څوک ئې بندولې نشی	اوکوم
وَمَا يُمْسِكْ ۙ فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ
او هغه چې بند کړی	پس نۀ وی ليږونکي	هغه څيزلره هيڅوک	روستو دبندولو دهغه نه
څيز چې هغه بند کړی نو څوک ئې د بندولو نه پس جاری کولې نشی
وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝
اوهغه غالب دي	حکمت والا دي
اوهغه غالب صاحب د حکمت دي

قوله تعالى:- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د الله ﷻ تعريف او د کمال قدرت بيان:- ابن عباس ﷺ فرمائی د (فاطر) بالکل ټيک معنی ما د ټولونه اول ديو اعرابی د ژبې نه اوريدلې معلومه کړې ده. هغه يويل خپل ملګری اعرابی سره په جګړه راغلو. ديوکوهی باره کښې دهغوی اختلاف وو نوهغه اعرابی وئيل (انا فطرتها) يعنی اول اول هم ماجوړ کړې دی[1] نومعنی هم دا شوه چه دشروع نه بې نمونې صرف په خپل قدرکامله سره الله ﷻ زمکه اوآسمان پيدا کړل. دضحاك ﷺ نه روايت دي چه دفاطر معنی خالق ده[2] دخپل ځان اوخپلو نبيانو په مينځ کښې هغه خپلې فرښتې قاصدان جوړکړې دی چه د وزرو والادی الوزی دي دپاره چه دپيرزرد الله ﷻ پيغام د هغه رسولانوته اورسوی. په هغې کښې بعضې ددوو وزرو والا دی د بعضو دري وزرې دی دبعضو څلور څلور وزرې دی اود بعضو د دې نه هم زياتې دی. حديث شريف کښې دی رسول الله ﷺ د معراج په شپه جبرائيل ﷺ اوليدلو نود هغه شپږ سوه وزرې وې اود هرو دوو وزرو په مينځ کښې د مشرق اومغرب هومره فاصله وه[3] دلته هم فرمائی رب تعالى چه څه غواړی پخپل مخلوق کښې زياتوالې کوی. دچاد پاره چه غواړې ددې نه هم زياتې وزرې ورکوی اوپه کائنات کښې چه څه غواړی آبادوی. ددې نه مراد ښکلې آوازهم اخستې شوې دي. يوشاذ قراءت (فی الخلق) "ح" سره هم دي. والله اعلم.

---

[1] الدرالمنثور:۳/۷.

[2] الدرالمنثور:۳/۷.

[3] صحيح بخاری كتاب بدء الخلق باب اذا قال احدكم آمين والملائكة فی السماء:۳۳۳۲-۳۳۳۳، صحيح مسلم:۱۷٤.

Scanned with Ca

قوله تعالى:-مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ

الله تعالى په هر څيز باندې غالب دې :-دالله ﷻ غوښتلې شوې هرڅه کيږي اوبغيرد هغه د غوښتنې نه هيڅ هم نه کيږي.کوم څه چه هغه ورکړي دهغې بندونکې څوک نشته اوکوم چه بندکړي هغه څوک ورکونکې نشته.د فرض مانځه دسلام نه پس د الله ﷻ رسول ﷺ به همیشه داکلمات لوستل((لااله الاالله وحده لاشريك له له الملك وله الحمد وهوعلى كل شئ قدير اللهم لا مانع لما اعطيت ولامعطى لما منعت ولاينفع ذالجد منك الجد))حضور ﷺ به دفضول خبرونه ډيرو سوالونونه اود مال د بربادئی نه منع کول.اوحضور ﷺ به جينکئې ژوندې خښول اود ميندو نافرمانی کول اوپخپله اخستلواونوراخستلوته نه پريخودل نه هم منع کول( ) صحيح مسلم شريف کښې دی چه رسول الله ﷺ به د رکوع نه سر اوچتولو ((سمع الله لمن حمده)) وئيلوسره فرمائيل ((اللهم ربنا لك الحمد ملاالسماء والارض وملاماشئت من شئ بعد اللهم اهل الثنآء والمجد احق ما قال العبد وكلنا لك عبد اللهم لا مانع لما اعطيت ولا معطى لما منعت ولاينفع ذالجد منك الجد))( )اوهم ددې آيت په شان آيت ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ۝﴾ ( ) نورهم ددې دمثال ډيرآياتونه دی.امام مالك ﷺ فرمانی چه باران به وريدلونوحضرت ابوهريره ﷺ به فرمائيل په مونږ باندې د فتح د ستورې نه باران راوورولې شو. بيابه ئې د دې آيت تلاوت کولو. (ابن ابی حاتم)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ	اذْكُرُوْا	نِعْمَتَ اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ ؕ	هَلْ مِنْ خَالِقٍ
ا اے . خلقو	ياد کړئ	احسان دالله		
ا .....ائې خلقو په تاسوچې دالله ﷻ کوم نعمتونه دی				

غَيْرُ اللّٰهِ	يَرْزُقُكُمْ	مِّنَ السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ ؕ
چې دې په تاسو باندې آيا شته څوک پيداکونکې	بغير دالله نه	چې رزق درکوی تاسو ته	
هغه ياد ساتئ آيا دالله ﷻ نه بغير بل څوک خالق شته	چې تاسوته دآسمان		

لَاۤ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ ۚ	فَاَنّٰى	تُؤْفَكُوْنَ۝
دآسمان نه	او دزمکې نه	نشته دې لائق دعبادت	مگر هم هغه دې
اود زمکې نه روزی در رسوی ؟	د هغه نه سوا بل څوک معبود نشته	نو دا تاسو کوم طرفته اړولی	

وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ	فَقَدْ كُذِّبَتْ	رُسُلٌ	مِّنْ قَبْلِكَ ؕ	وَاِلَى اللّٰهِ
تاسو دوکه خورئ اوکه دوئ دروغ ګڼړی تالره انو دروغ ګڼړلې شوی دی	رسولان	مخکښې سنانه		
شئ اوکه دوئ تادروغژن اوګڼړی	نو تانه وړاندې هم پيغمبران دروغژن ګڼړلې شوی وو			

تُرْجَعُ	الْاُمُوْرُ۝	يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ	اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ	حَقٌّ
او خاص الله ته	واپس کيږی	تول معاملات	اے خلقو	بيشکه وعده دالله
اواخر تولې مقدمې به الله ﷻ ته پيش کيږی	ائې خلقو دالله ﷻ وعده بالکل ريښتونې ده			حقه ده

) صحيح بخاری كتاب الرقاق باب مايكرهن قيل وقال:٦٤٧٣، صحيح مسلم:٥٩٣، احمد:٤/٢٥٤. (بخاری اومسلم).

) صحيح مسلم كتاب الصلاة باب مايقول اذارفع راسه من الركوع: ٤٧٧، ابوداؤد:٥٨٤٧، احمد:٣/٨٧، ابن حبان: ١٩٠٥.

) ٦/الانعام:١٧.

Scanned with Ca

فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ	الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۪	وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ	بِاللّٰهِ
پس په دوکه کښې وانچوی تاسو	ژوند ددنیا	اونۀ دوکه کړی تاسو	په باره دالله کښې
نوددنیا دا لږ ژوند مو خطا نه کړی	.....	او دالله په باره کښې مو دهوکه باز (شیطان)	
الْغَرُوْرُ ۝	اِنَّ الشَّيْطٰنَ	لَكُمْ	عَدُوٌّ
هغه غټ دوکه باز	بیشکه چې شیطان	ستاسو دپاره	دشمن دي
دوکه نکړی	بیشکه شیطان ستاسو ښکاره دښمن دي	نوتاسوئې همیشه په دشمنئ سره اونیسئ	
اِنَّمَا	يَدْعُوْا	حِزْبَهٗ	لِيَكُوْنُوْا
بیشکه هغه رابلی	دله خپله	دپاره ددې چې شی هغوئ	دملګرو ددوزخ نه
هغه خو (لګیادي) خپله دله		پدې مقصد راغواړی	چې دوزخیان شی

قوله تعالی:- يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ؕ

د الله ﷻ په نعمتونوسره د الله ﷻ پیژندګلو:- ددې خبرې دلیل بیانولې شی چه د عبادتونولائق صرف هم یوالله ﷻ ذات دې ځکه چه خالق اورازق هم هغه دې.بیادهغه نه بغیردبل چا عبادت کول سخته غلطی ده.په اصل کښې دهغه نه بغیرد عبادت لائق څوك شته نه.بیا تاسو د دې ښکاره دلیل او برهان نه پس څنګه دهوکه شوئی؟ اود نورو د عبادتونود پاره تیتیږئی. والله اعلم.

قوله تعالی:- اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ

شیطان دخلقو ښکاره دښمن دي :- ای رسول الله ﷺ که ستاد زمانې کافران ستا مخالفت کوی اوستاد خودلې شوی توحیداوپخپله ستاد ربښتونې رسالت دروغ ګڼړی نو ته زړه مه خفه کوه. د وړاندینو نبیانو سره هم داسې شوی دی. د ټولوکارونو واپس کیدل هم د الله ﷻ طرف ته دی.هغه به ټولوته د هغوی د ټولوکارونو بدله ورکړی اوبدله اوسزا به ټوله وی.خلقو دقیامت ورځ حق ده هغه یقینا راتلونکې ده هغه وعده کلکه ده.دهغه ځائ دنعمتونوپه بدله کښې ددې ځائ دافانی عیش اوعشرت کښې مه اینخلئ. د دنیا ظاهری عیش د هغه ځائ د حقیقی خوشحالئی نه تاسو محروم نه کړی دغه شان د شیطان مکار نه هم هوښیاراوسیږئی.دهغه په تلونکی راتلونکی جادوکښې اونه انخلئی.دهغه ددروغو اوچاپړوسئی په خبروکښې رانه شئی اودالله ﷻ د رسول ﷺ حق کلام پرینږدئی دسورت لقمان په آخره کښې هم دا فرمائیلی دی.غروریعنی دهوکه باز ئی دلته شیطان ته وئیلی دی([1])کله چه د مسلمانانواومنافقانو په مینځ کښې دقیامت په ورځ دیوال اودرولې شی په کوم کښې چه به دروازه وی دکوم په دننه حصه کښې چه به رحمت وی اوبهرحصه کښې عذاب هغه وخت به منافقان مؤمنانوته وائی چه آیامونږ ستاسو ملګری نه وو؟ دوی به جواب ورکړی چه اوملګری خو وی ولې تاسو خپل ځان په فتنه کښې واچولو اوسوچونه مو کول او شك شبه مو لرې نه کړه. د خواهشاتو په پوره کولو کښې ډوب وئی. تردې چه د الله ﷻ حکم راورسیدو اودهوکه باز شیطان تاسو په دهوکه کښې اوساتلئی. په دې آیت کښې هم شیطان ته غرور وئیلې شوې دي.

قوله تعالی:- اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ

د شیطان ددهوکې بیان:- بیانی شیطانی دښمنی بیان کړه چه هغه خو تاسو خبروی او ستاسو ددښمنئی

([1]) الطبری: ۴۳۸/۲۰.

بوج نی په خپل سر اوچت کړي دي. بیا تاسو ولې د هغه په خبرو کښې راځئی اودهغه په دهوکه کښې اینخلئی؟دهغه اود هغه د فوځ خوبالکل هم داخوښه ده چه هغه تاسوهم خپل ځان سره په رابنکلو دوزخ ته یوسی الله ﷻ قوی دي عزیز دي اوزمونږ دعاده چه هغه دي مونږ د شیطان دښمنان کړی او د هغه د مکر دي مونږ په حفاظت کړی. اود خپل کتاب اورسول الله ﷺ د سنتو د تابعدارئی توفیق راکړی. هغه په هرځیز قادردي اود دعاګانو قبلونکي دي. لکه څنګه چه دي آیت کښې د شیطان د دښمنئی بیان کړي شوي دي دغه شان دسورت کهف د آیت ﴿وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ۭ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَاۗءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ۭ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ۝﴾[1] کښې هم د هغه د دښمنئی ذکر دي.

اَلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَهُمْ	عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۭ	وَالَّذِيْنَ	
هغه کسان	چې کافران شوی دی	دهغوئ دپاره	عذاب سخت دي	او هغه کسان	
هغه خلق کومو چې کفر اختیار کړو	د هغوئ دپاره سخت عذاب مقرر دي			اوچا چې	
اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝	
چې ایمان ئې راوړي وی	او عملونه کوی نیک	دهغوئ دپاره	ببنانه ده	او اجر لوئ دي	
ایمان راوړي دي	اودنیکئ کارونه کوی	نو هغوئ دپاره ببښنه	او ډیر لوئي اجرمقرر دي		
اَفَمَنْ	زُيِّنَ	لَهٗ	سُوْۗءُ عَمَلِهٖ	فَرَاٰهُ	
آیا پس هغه څوك	چې ښائیسته کړي شوي وی	هغه ته	بدعمل دهغه	پس اوویني دي هغه	
آیاچا ته چې خپل بدعمل ښائسته ښکاره شوي وی	او هغه پرې دنیک عمل ګمان کوی	نوهغه دنیکانو			
حَسَنًا ۭ	فَاِنَّ اللّٰهَ	يُضِلُّ	مَنْ يَّشَاۗءُ	وَيَهْدِيْ	مَنْ
نیك	پس بې شکه الله	ګمراهه کوی	هغه څوك چې غواړی	او نیغه لارښائی	هغه چاته
برابر کیدشی، الله ﷻ چې څوك ګمراه کول غواړی ګمراه ئې کړی			اوچې چاته هدایت کول غواړی		
يَّشَاۗءُ ۙ	فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ	عَلَيْهِمْ	حَسَرٰتٍ ۭ	اِنَّ اللّٰهَ	
چې غواړی	پس نه دځی (نه دخفه کیږی) زړۀ ستا	په دوئ باندي	دوجې دافسوس غم نه	بیشکه الله	
نوهدایت ورته وکړی	نوته په دوئ باندي د غم کولو په وجه ځان مه هلاکوه	بیشکه الله ﷻ			
عَلِيْمٌۢ	بِمَا	يَصْنَعُوْنَ ۝			
	ښه عالم دي	په هغې	چې دوئ ئې کوی		
	ددوئ په کارونو ښه خبر دي				

قوله تعالی:- اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۭ

دشیطان منونکو له عذاب او نه منونکو له جنت:- پورته بیان تیرشوي ووچه د شیطانانود تابعدارانوځائ دوزخ دي ددي دپاره دلته بیان کولې شی چه دکافرانودپاره ډیرسخت عذاب دي.ځکه چه دوی د شیطان تابعدار اود رحمن نافرمانه دی. د مؤمنانونه چه کومه ګناه هم اوشی ډیره ممکن ده چه الله ﷻ به هغه

[1] ۱۸/الکهف: ۵۰.

معاف کړی اوکومې نیکئی چه دهغوی دی په هغې باندې به هغوی ته ډیردروند اجراوثواب ملاویږی. کافرانواوبدکارانوخپلې بدعملئی نیکئی ګنړلې ناست دی.نوپه داسې ګمراه خلقو باندې ستا څه وس دې؟هدایت اوګمراهی هم دالله ﷻ په لاس کښې ده.ته په دې باندې مه خفه کیږه دالله ﷻ مقدرات جاری شوی دی.دمالك الملوك مصلحت په دې کښې دالله ﷻ نه بغیربل څوك هم نه پیژنی. په هدایت اوضلالت کښې هم د هغه حکمت دې هیڅ یوکار د هغه ربښتونی حکیم د حکمت نه خالی نه دې.دخلقو ټول کارونه هغه ته ښکاره دی.

حضور ﷺ فرمائی الله ﷻ خپل ټول مخلوق په تیاره کښې پیداکړی دی بیانی په هغوی باندې خپل نور واچولو. نو په چا چه هغه نور پریوتلو هغه دنیاته راغلو په نیغه لار روان شو اوچاته چه په دغه ورځ نور ملاونه شو هغه دنیاته په راتلوسره هم د هدایت نه فائده مندنه شو.پدې وجه زه وایم چه د الله ﷻ عزوجل د علم مطابق قلم روانیدو سره اوچ شو(۱)

یوبل روایت کښې دی مونږله حضوراکرم ﷺ تشریف راوړو وئی فرمائیل دالله ﷻ د پاره ټول تعریفونه دی چه د ګمراهئی نه دې په هدایت راولی اوپه چاچه غواړی ګمراهی ګډه وډه کړی(۲)داحدیث هم ډیر زیات غریب دې.

وَاللّٰهُ	الَّذِیْۤ	اَرْسَلَ	الرِّیٰحَ	
اوالله	هغه ذات دې	چی رالیږی	هواګانې	
ددوئ په کارونو ښه خبر دې	.....الله ﷻ هغه ذات دې چې بادونه رالیږی			
فَتُثِیْرُ	سَحَابًا	فَسُقْنٰهُ	اِلٰی بَلَدٍ مَّیِّتٍ	فَاَحْیَیْنَا
پس پورته کوی	وریځې	پس لیږو مونږه هغه	زمکې مړې ته	پس ژوندئ کوؤ مونږه
نوهغه وریځې خورې کړی	نومونږ ئې مړې (اوچې) زمکې ته وراولیږو		انو زمکه پرې دمړګ	
بِهِ الْاَرْضَ	بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ	كَذٰلِكَ	النُّشُوْرُ ۝۹	
په هغې سره زمکه	روسنو دمړګ دهغې نه	دارنګې به وی	راپورته کیدل ددوباره ژوند	
نه پس بیا ژوندئ کړو	.....هم دغسې به (ستاسو) دوباره ژوندون وی			
مَنْ كَانَ یُرِیْدُ	الْعِزَّةَ	فَلِلّٰهِ	الْعِزَّةُ جَمِیْعًا ؕ	اِلَیْهِ یَصْعَدُ
هغه څوك	چی غواړی	عزت	پس الله لره دې	عزت ټول اخاص هغه ته
څوك چې د عزت اراده لری	نو ټول عزت صرف د الله دې	هغه (الله) طرفه ته ښه خبره (کلمه طیبه)		خیژی
الْكَلِمُ الطَّیِّبُ	وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ	یَرْفَعُهٗ ؕ	وَالَّذِیْنَ	
کلمې (خبری) پاکې	او عمل نیك	پورته کوی هغه	او هغه کسان	
پورته خیژی	اوښه کارونه هغه (آسمان طرفته) پورته کوی	.....اوخوك چې		

(۱) حاکم:۱/۳۰ح ۸۳وسنده صحیح.
(۲) ابن ابی حاتم.

Scanned with Ca

يَمْكُرُونَ	السَّيِّاٰتِ	لَهُمْ	عَذَابٌ شَدِيدٌ ؕ	وَمَكْرُ	أُولٰٓئِكَ
چې جوړوی سازشونه ناکاره	هغوئ لره دي	عذاب سخت	او سازش	ددي خلقو چې دي	
بد سازشونه جوړوی	هغوئ دپاره سخت عذاب مقرر دي	.....	اوددي خلقو ټول تدبيرونه		

هُوَ	يَبُوْرُ ۝	وَاللّٰهُ	خَلَقَكُمْ	مِّنْ تُرَابٍ	ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ
هغه	تباه کيدونکي دي	او الله	پيدا کړئ تاسو	دخاورې نه	بيادنطفې نه
ناکم دي	.....	اوالله ﷻ هغه ذات دي	چا چې تاسو د خاورې نه ، بيا ئې د نطفې نه پيدا کړئ		

ثُمَّ جَعَلَكُمْ	أَزْوَاجًا ؕ	وَمَا تَحْمِلُ	مِنْ أُنْثٰى	وَلَا تَضَعُ	إِلَّا
بيا يې کړئ تاسو	جوړئ جوړئ	اونۀ قبلوی حمل	يوه ښځه	اونۀ ږدی حمل	مګر
بيا ئې جوړې جوړې	اوګرځولئ	اوهيڅ يوه زنانه چه کله (په خپل رحم کښې) حمل بارکوی	يا ئې زيږون کيږی		

بِعِلْمِهٖ ؕ	وَمَا يُعَمَّرُ	مِنْ مُّعَمَّرٍ	وَّلَا يُنْقَصُ	
په علم دهغه کښې وی	او عمر نۀ ملاويږی	يو عمر ملاويدونکي ته	اونۀ څه کمي کيږی	
نو په ټولو هغه پوهيږی	.اونه د چا عمر زياتيږی	اونه د چا په عمر کښې کمي کيږی		

مِنْ عُمُرِهٖٓ	إِلَّا	فِيْ كِتٰبٍ ؕ	إِنَّ ذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ	يَسِيْرٌ ۝
دعمر دهغه نه	مګر (هغه)	په کتاب کښې وی	بيشکه	دا کار	په الله باندې
داهر څه په لوح محفوظ کښې ليکلی موجود دی	اوداټول کارونه الله ﷻ ته ډير آسان دی				

قوله تعالى:- وَاللّٰهُ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ

د الله ﷻ د قدر تونوبيان:- د مرګ نه پس په ژوندی کيدو باندې قرآن کريم په عام توګه د اوچې زمکې په شين کيدوباندې استدلال کړې شوی دي.لکه په سورت حج وغيره کښې دی دبندیګانود پاره په دې کښې پوره عبرت اودمړو په ژوندی کيدو باندې پوره دليل په دې کښې موجود دي.چه زمکه بالکل اوچه پرته ده هيڅ تازه والي پدې کښې نه ښکاری. خواوريخې راوچتيږی اوبه راوريږی د هغې اوچوالي په تازه والی اومرګ په ژوندبدليږی.ياخويودکې هم په نظرنه راتلو يا په ميلونوباندې شينکي پيدا کيږی.دغه شان به د بنيادمواجزا په قبرونوکښې شيندلې پراته وی يوبه دبل نه جداوی خودعرش د لاندې نه داوبوراوريدلوسره به ټول بدنونه دقبرونو نه راوټوکيږی.لکه دزمکې نه چه داني راټوکيږی. په صحيح حديث کښې دی بنيادم ټول په ټول سخاکيږی خودملا هډوکی نه سخاکيږی هم د دې نه پيدا کړې شوې دي اوهم د دې نه به ترتيب ورکولې شی(۱) دلته نی هم نبنه اوخودله ونی فرمائيل دغه شان د مرګ نه پس ژوند دي. د سورت حج په تفسير کښې داحديث تيرشوی دي.

قوله تعالى:- كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۝

د بيا راپورته کيدو مثال:- ابو رزين ﷺ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړوحضور ﷺ الله ﷻ به دامړی څنګه راژوندی کوی؟ اودهغه په مخلوق کښې ددې خبرې څه دليل دي؟حضور ﷺ اوفرمائيل اې ابورزين! آيا ته دخپل کلی زمکې سره خواکې په داسې حال کښې نه نی تيرشوې چه هغه اوچه شاړه پرته وی بيا چه

---

(۱) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة عم يتساءلون:۴۹۳۵، صحيح مسلم:۲۹۵۵، ابوداؤد: ۴۷۴۳، ابن ماجه: ۴۲۶۶،احمد:۳۲۲/۲، ابن حبان:۳۱۳۹.

Scanned with Ca

داته پري تيريږي اوګوري چه هغه تکه شنه جوړه شوي ښکاري اوبه تازګۍ سره خوزيږي.ابوزرين ﷺ جواب ورکړو چه اوحضور ﷺ دامې اکثر په کتلوکښې راغلی دی.حضور ﷺ اوفرمائيل چه بس هم دغه شان به الله ﷻ مړی هم راژوندی کوی(۱)کوم سړي چه په دنيااوآخرت کښې په عزت سره اوسيدل غواړی هغه له د الله ﷻ تابعداری کول پکاردی هم هغه دامقصد پوره کونکې دي. د دنيااوآخرت مالك هم هغه دي. ټول عزتونه هم دهغه په قبضه کښې دی.

بل آيت کښې دی چه کوم خلق مؤمنان پريږدی اودکافرانوسره دوستی کوی چه هغوی سره دي زمونږ عزت وی هغه دي د عزت نه لاس اووينځي. عزتونه خود الله ﷻ په قبضه کښې دی. يوبل ځای کښې ارشاد رباني دي﴿ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (۲)يعنی عزتونه هم د الله ﷻ د پاره دی دهغه درسول ﷺ د پاره اودايمانداراونود پاره خومنافقان بې علم دی.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه د بتانوپه عبادت کښې عزت نشته اود عزتونومالك خوهم الله ﷻ دی.(۳)دقتاده رحمه الله په قول د آيت مطلب دا دي چه د عزت غوښتونکی ته د الله ﷻ د احکامو پوره کولوکښې مشغول کيدل پکاردی.(۴) اوداهم وئيلې شوی دی چه که څوك په دي باندې ځان پوهه کول غواړی چه د چاد پاره عزت دي هغه دي پوهه شی ټول عزتونه هم د الله ﷻ دپاره دی. ذکر تلاوت دعا وغيره پاکې کلمې هم دهغه طرف ته خيژی.

قوله تعالى:- إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ

کلمه او نيک اعمال به بری او ګناهونه بهٔ لاندې راځی:-حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی مونږ چه څومره احاديث ستاسو په وړاندې بيانوو د ټولو تصديق د کتاب الله نه درکولې شو. واورئی مسلمانانو بنده چه کله ((سبحان الله وبحمده والحمدلله ولااله الا الله والله اکبر تبارك الله))لولی نودا کلمې فرښته د خپل وزرلاندې اوری اوآسمان ته خيژی. د فرښتوکومې يوې ډلې سره چه تيريږی هغه ډله د دی کلماتو د ذکرکونکی دپاره د ابښنې دعاګانې غواړی.تردې چه رب العالمين ته وړاندې داکلمې پيش کولې شی بيا هغوی د ﴿ إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ۚ وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ السَّيِّئَاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ أُولَٰئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴾ (۵) تلاوت اوکړو(۶).

حضرت کعب احبار رحمه الله فرمائی ((سبحان الله او لااله الاالله او الله اکبر)) دعرش نه ګيرچاپيره رو رو آواز راوباسی لکه دشاتود مچوښړاري چه وی. دخپل ويونکی ذکرالله ﷻ په وړاندې کوی اونيك اعمال نی په خزانوکښې محفوظ کيږی.مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی کوم خلق چه دالله ﷻ جلال د هغه تسبيح دهغه حمد دهغه دلوئې اودهغه د وحدانيت ذکر کوی. دهغه دپاره داکلمې دعرش سره نيزدې دالله ﷻ په وړاندې ذکرکوی.آياتاسونه غواړئی چه څوك نه څوك دي ستاسو ذکرالله ﷻ په وړاندې کوی(۷)دحضرت ابن عباس ﷺ فرمان دي د پاکو کلمونه مراد د الله ﷻ ذکر دي اود نيك عمل نه مراد دفرائضواداکول دی. نوچه کوم سړي دالله ﷻ ذکراود فرائضوادائيګی کوی دهغه عمل اود هغه ذکرالله ﷻ ته پورته خيژی.اوچه څوك ذکر اوکړی او فريضه ادانه کړی دهغه کلام دهغه په عمل باندې واپس کولې شی(۸)دغه شان حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه کلمه طيبه نيك عمل اوړی اودبزرګانونه

---

۱) احمد:۴/۱۱سنده حسن،.
۲) ۶۳/المنافقون:۸.
۳) الطبری:۲۰/۴۴۳.
۴) الطبری: ۲۰۴۴۴.
۵) ۳۴سبا:۱۰.
۶) حاکم:۲/۴۲۵وهوالرحسن،.
۷) ابن ماجه کتاب الادب باب فضل التسبيح:۳۸۰۹وسنده حسن، احمد:۴/۲۶۸.
۸) الطبری: ۲۰/۴۴۵.

Scanned with Ca

هم دغه نقل دی.

قوله تعالی:- وَالَّذِيْنَ يَمْكُرُوْنَ السَّيِّاٰتِ

اوایاس بن معاویه قاضی رحمه الله فرمائی که نیك عمل نه وی نو کلمه طیبه پورته نه خیژی. حسن او قتاده رحمهما الله فرمائی قول بغیردعمل نه مردوددی. د بدو په شیش کښې هغه خلق ناست وی چه په مکر او ریاکارئی سره اعمال کوی(۱) لکه خلقوته دانبائی چه هغه دالله ﷻ فرمانبرداری کوی خوپه حقیقت کښې هغه د الله ﷻ په نیز د ټولونه زیات خراب دی. .کومې نیکئی چه هغه کوی هغه صرف د څان خودنې د پاره کوی. دوی د الله ﷻ ذکر ډیرکم کوی. عبدالرحمن رحمه الله فرمائی دی نه مراد مشرك دی. خوصحیح دادی چه داآیت عام دی مشرك په دی کښې په طریقه اولی داخل دی د هغوی دپاره خوسخت عذاب دی اودهغوی مکر فاسد اوباطل دی. دهغوی دروغ که نن نه وی نوصبابه رابښکاره شی.عقل مندبه د هغوی دمکرنه خبرشی.کوم سړې چه څه کوی دهغې اثردهغه د مخ نه ښکاره کیږی.دهغه ژبه هم په هغه رنګ باندې رنګ کیږی.څنګه چه ئی باطن وی هم هغه شان دهغې عکس په ظاهرباندې هم ښکاری. د ریاکار بې ایمانی د ډیرې مودې پورې پټ نه شی پاتې کیدی. اوکه څوك بې وقوف د هغه په جال کښې راګیرشی هغه بله خبره ده. مؤمنان پوره عقل منداوهوښیار وی اوهغوی د دې دهوکه بازونه پوره خبر وی اود هغه عالم الغیب نه خو څه خبره پټیدې نه شی.

قوله تعالی:- وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ

د انسان پیدائش دالله تعالی د کمال علم ذکر:- الله ﷻ ستاسو پلار حضرت آدم عليه السلام دخاورې نه پیداکړو اود هغه نسل ئی دبې قیمته اوبونه جاری اوساتلو بیائی تاسوجوړه جوړه پیداکړئی.یعنی سړې اوښځه او داهم دهغه کرم لطف اواحسان دی چه د سړو د پاره ئی ښځې جوړې کړې چه دهغوی دسکون اوراحت سبب دی.دهرې یوې حمل داری د حمل اود هربچی دپیدا کیدوخبرهغه ته دی.بلکه دهرې پانړې رارژیدو اوپه تیاره کښې دپرتې دانې نه اودهریولوند اواوچ څیزنه هغه خبردی بلکه دهغه په کتاب کښې هغه لیکلې شوې دی. د دې آیت په شان ﴿ اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ۝﴾ (۲) والا آیت هم دی اوهم هلته دهغې تفسیر هم تیرشوی دی.

قوله تعالی:- وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖۤ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ

د نقص عمر او زیادت مطلب:- دغه شان الله ﷻ عالم الغیب ته داهم علم دی چه کومې نطفې ته اوږد عمرملاویدونکې دی .داهم هغه سره لیکلی دی.﴿ وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖۤ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ ﴾ کښې "ه" دضمیر مرجع جنس ته دی. عین نه دی څکه چه دعمر اوږدوالې په کتاب کښې دی.اودالله ﷻ په علم کښې دهغه دعمر نه کمې نه شی کیدی. د جنس طرف ته هم ضمیراګرځی لکه چه په عربوکښې وئیلې شی (عندي ثوب ونصفه) یعنی ماسره یوه کپړه ده اودبلې کپړې نیمه ده. د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی د کوم سړی د پاره ما د اوږدوالی عمر مقدرکړی دی هغه به دا هم دغسې پوره کوی. خوهغه اوږدعمر زما په کتاب کښې لیکلې شوی دی هم هغې ته به رسی.اوچاد پاره چه ماکم عمر مقررکړی دی د هغه ژوند به هم هغه عمر ته رسی.دا هرڅه د الله ﷻ په رومبی کتاب کښې لیکلې شوی موجود دی اورب ته دا ټول هرڅه آسان دی.(۳) دعمر د ناقص کیدو یومطلب داهم کیدې شی چه کومه نطفه د پوره کیدو نه وړاندې پریوځی هغه هم د الله ﷻ په علم کښې ده.بعضې انسانان سل سل کاله عمر لری

---

(۱) الطبری: ۲۰/٤٤٧.
(۲) ۱۳/الرعد:۸.
(۳) الطبر: ۲۰/٤٤٧.

Scanned with Ca

او بعضې پیداکیدو سره مری. دشپیتو کالونه کم عمروالا هم دناقص عمروالا دې. داهم وئیلې شوی دی چه دموریه خیټه کښې د عمر اوږدوالې باکم والی لیکلې کیږی. د ټول مخلوق یوشان عمر نه وی څوک داوږد عمروالا اوڅوک دکم عمر والا وی. دا ټول الله ﷻ سره لیکلې شوی دی اوهم د هغې په شان په ظهور کښې راځی. بعضې وانی چه د ې معنی داده چه کوم اجل لیکلې کیږی اوددې نه کوم تیریږی ټول دالله ﷻ په علم کښې دی اوهم دهغه په کتاب کښې لیکلې شوی دی. بخاری اومسلم وغیره کښې دی حضوراکرم ﷺ فرمائی چه څوک غواړی دهغه رزق اوعمردې زیات شی نوهغه دې صله رحمی کوی. (۱) ابن ابی حاتم کښې دی حضوراکرم ﷺ فرمائی دچا اجل راتلوسره هغه ته مهلت نه ملاویږی. دعمر د زیاتوالی نه مراد د هغه نیك اولاد کیدل دی. د کومودعاګانې چه د هغه د مرګ نه پس د هغه قبرته هم رسی. هم دادعمر زیاتوالې دې. دا الله ﷻ ته آسان دی اود دې علم هغه سره دې. د هغه علم ټول مخلوق راګیر کړې دې. هغه هریوڅیز پیژنی دهغه نه هیڅ هم پټ نه دی.

وَمَا يَسْتَوِي	الْبَحْرٰنِ ۖ	هٰذَا عَذْبٌ	فُرَاتٌ	سَآئِغٌ
اونۀ دی برابر	دواړه دریابونه	دا خوږ دی	تنده ماتونکې دې	تیریدونکې دی (مزې دار دې)
اودوه قسمه دریابونه یو قسم خوږ ،تنده ماتونکې دې				او څکل ئې مزیدار دی
شَرَابُهٗ	وَهٰذَا	مِلْحٌ	أُجَاجٌ ؕ	وَمِنْ كُلٍّ	تَأْكُلُوْنَ	لَحْمًا
اوبۀ ددې	اودا (بل)	مالګین دې	حلق غوڅونکې دې	او دهر یونه	خورئ تاسو	غوښی
او(دویم قسم) مالګین ، تریخ دی			او د هریو نه تاسو تازه غوښه (دکبانو وغیره) خورئ			
طَرِيًّا	وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ	حِلْيَةً	تَلْبَسُوْنَهَا ۚ	وَتَرَى الْفُلْكَ
تازه	او راوباسئ تر تاسو	دښائیست سامان	چې تاسو اغوندئ هغه	اووینې ته کشتئ
اوکالی (موتی وغیره) راوباسی		چې تاسوئې اغوندئ	اوته په کښې بیږئ (اوجهازونه)	
فِيْهِ	مَوَاخِرَ	لِتَبْتَغُوْا	مِنْ فَضْلِهٖ
په دې کښې	ځیرونکې اوبو لره	دپاره ددې چې تاسو تلاش کړئ	دفضل دهغه نه
دینې	چې داوبو سینه شلوی	او وړاندې ځی	دا دې دپاره چې تاسو دهغه پیدا کړې روزی اولتوئ
وَلَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾			
او دپاره ددې چې تاسو	شکر اوباسئ			
اود ا ددې دپاره چې تاسو دهغه شکر اوباسئ				

قوله تعالی:- وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۖ

د الله ﷻ **دعجیبه قدرت بیان**:- دمختلفوڅیزونود پیدائش بیانولونه پس ئی خپل زبردست قدرت ثابت کړو. دوه قسمه دریابونه ئی پیداکړل په کوموکښې چه لوئې لوئې کشتئی اوجهازونه روان دی. اود دواړوقسم دریابونونه قسم قسم کبان تاسو راوباسئی اوتازه غوښه خورئی. بیاد دې نه کالی راوباسئی یعنی لولؤ او مرجان. داکشتئی برابر اوبه پریکوی د هواګانو مقابله کوی روانې دی دې د پاره چه تاسو

---

۱) صحیح بخاری کتاب الادب باب من یبسط له فی الرزق الصلة الرحم: ۵۹۸۶، صحیح مسلم: ۲۵۵۷، ابوداؤد: ۱۶۹۳.

Scanned with Ca

دهغه فضل اولتپونی.تجارتی سفرونه په دې باندې پوره کړئی.تاسو دسمندرونونه اود دریابونونه او کشتونه نفع حاصلوئی.چرته چه تلل غواړئی نو رسئی.ددې قدرت مالك الله ﷻ د زمکې اوآسمان څیزونه ستاسو دپاره مسخرکړی دی اوداصرف هم دهغه فضل اوکرم دې.

يُولِجُ	الَّيْلَ	فِي النَّهَارِ	وَيُولِجُ	النَّهَارَ		
ننباسی هغه	شپه	په ورځ کښې	او ننباسی	ورځ		
هغه شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې						
فِي الَّيْلِ ۙ	وَسَخَّرَ	الشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ ۖ	كُلٌّ يَجْرِي	لِأَجَلٍ	
په شپه کښې	او تابع کړی دی هغه	نمر	اوسپوږمئ	هر یو چلیږی	دیوې نیټې	
داخلوی	او نمر اوسپوږمئ ئې په کار لګولی دی	هر یو خپلې مقررې نیټې پورې روان دی				
مُسَمًّى ۚ	ذَٰلِكُمُ اللَّهُ	رَبُّكُمْ	لَهُ الْمُلْكُ ۚ	وَالَّذِينَ		
مقررې پورې	هم دغه الله	رب ستاسو دې	هغه لره بادشاهی ده	او هغه کسان		
هم دغه الله ﷻ ستاسورب دې	بادشاهی هم د هغه ده	.....	اودهغه نه بغیر چې تاسو			
تَدْعُونَ	مِن دُونِهِ	مَا يَمْلِكُونَ	مِن قِطْمِيرٍ ۚ			
چې رابلئ ئې تاسو	بې دالله نه	نۀ دی مالکان هغوئ	دپردې دزړی دخرما			
څوک رابلئ	نوهغوئ د کهجورې د هډوکی دپاسه پروت نرم پوستکی هم اختیار نه لری					
إِن تَدْعُوهُمْ	لَا يَسْمَعُوا	دُعَاءَكُمْ ۖ	وَلَوْ سَمِعُوا	مَا اسْتَجَابُوا		
که تاسو رااوبلئ هغوئ	نو نۀ اوری هغوئ	بلنه ستاسو	او که وائې وری	نو جواب نشی درکولې		
که تاسو ئې اوبلئ نو هغوئ ستاسو بلنه هم نه آوری	او(فرض کړه)که دوئ ئې واوری	نو دوئ تاسوته				
لَكُمْ ۚ	وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ	يَكْفُرُونَ	بِشِرْكِكُمْ ۚ	وَلَا يُنَبِّئُكَ		
تاسو لره	او په ورځ دقیامت به	انکار کوی هغوئ	دشرك ستاسو نه	اونشی خبر درکولې		
جواب نشی درکولې	اود قیامت په ورځ به ستاسو د شرک نه انکار اوکړی	اود سم خبردار(الله ﷻ)				
مِثْلُ خَبِيرٍ ۚ						
په مثل	دخبردار (الله)					
پشان بل هیڅوک خبر نکړې شی						

قوله تعالی:- يُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ

دورځې اوشپې پیداکول د الله ﷻ دقدرت نښې دی:- الله ﷻ د خپل کامل قدرت بیان کوی چه هغه شپه د تیارې والا او ورځ د رڼاوالا جوړکړې دی. کله شپې لوئی اوکله ورځې لوئی.کله دواړه یو شان کله یخنی ده اوکله ګرمی ده. هم هغه نمر سپوږمئ ولاړ او ګرځیدونکی ستوری تابعدار کړی دی. په مقرر مقدار باندې د الله ﷻ د طرف نه په مقرر شوی چال باندې روان دی. د پوره قدرتونووالا اود کامل علم والا الله ﷻ دا نظام قایم ساتلې دې کوم چه یوشان روان دې اود مقرر وخته پورې یعنی د قیامته پورې

په هم داسې روان وی. کوم الله ﷻ چه داهرڅه کړی دی په اصل کښې هم هغه الله ﷻ د عبادت لائق دې او هم هغه د ټولو پالونکې دې. د هغه په شان څوک هم د عبادت لائق نشته.

قوله تعالیٰ:- وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

دالله ﷻ نه سوا هرڅوک عاجز او بې خبر دی:- کوم کوم بتانو ته چه دالله ﷻ نه بغیر کوم کوم خلق آوازونه کوی که هغه فریښتې ولې نه وی اود الله ﷻ سره لوئی درجې لرونکی ولې نه وی خو ټول په ټول د هغه په مخکې مجبوراوبالکل بې وسه دی. دکهجورې دهډوکی دپاسه دنرئی جلئی غوندې څیز هم دوی ته اختیار نشته. د آسمان اوزمکې دسپك نه دسپك څیز هم هغوی مالکان نه دی. کوم چه تاسو د الله ﷻ نه بغیر رابلئی هغوی ستاسو آواز اوری هم نه. ستاسو بتان وغیره بې ساه څیزونه دغوږونووالا نه دی چه واوری. بې ساه څیزونوهم چرته د چا اوریدلی دی؟ اوفرض کړه ستاسو آواز اوری هم نوچه دهغوی په قبضه کښې څه څیز شته نه نوهغوی ستاسو حاجت نه شی پوره کولې. د قیامت په ورځ به دا ستاسو د شرك نه انکاری شی. تاسو نه به ویزاره ښکاری.

لکه چه فرمائی ﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗۤ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ﴾[1] یعنی د دوی نه به زیات ګمراه څوك وی چه دالله ﷻ نه بغیرداسې چا ته چغې وهی چه د قیامته پورې به د هغوی وینا قبوله نه کړې شی.بلکه دهغوی ددعانه هغوی بې خبره اوغافل دی اوپه میدان محشر کښې به هغوی د دوی دښمنان شی اود هغوی د عبادت نه به منکر شی. بل آیت کښې دی ﴿وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا﴾[2] یعنی د الله ﷻ نه بغیر ئی نورمعبودان جوړکړی دی دې د پاره چه هغوی د دوی د پاره دعزت ذریعه جوړشی.خوداسې کیدونکی نه دی بلکه هغوی به د دوی دعبادت نه هم انکاری شی اودهغوی مخالف اودښمنان به شی. ښه ده اوښایه د الله ﷻ په شان ربښتیاخبرې څوك خودلې شی؟ هغه چه څه فرمائیلی دی هغه به خامخا کیږی. کوم څه چه کیدونکی دی هغې نه الله ﷻ پوره خبردې. د هغه په شان خبر بل څوك نه شی ورکولې.

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ	اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ	اِلَى اللّٰهِ ۚ	وَاللّٰهُ	
اے خلقو	تاسو محتاج یئ	الله ته	او الله چی دی	
ائې خلقو! تاسو ټول دالله ﷻ محتاج یئ	او الله ﷻ			
هُوَ الْغَنِيُّ	الْحَمِيْدُ ۝	اِنْ يَّشَاْ	يُذْهِبْكُمْ	وَيَاْتِ
هم هغه بې حاجته دی	ستائیلی شوی دی	که هغه اوغواړی	نو لرې به کړی تاسو	او رابه ولی
بې پرواه او ستائیلې شوی دی	.....	که هغه اوغواړی	نو تاسوبه ختم کړی	او نور نوی
بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ۝	وَمَا ذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ	بِعَزِيْزٍ ۝	وَلَا تَزِرُ
مخلوق	نوی	اونه دی دا کار	په الله باندې	څه ګران
مخلوق به پیدا کړی	اودا کار الله ﷻ ته	هیڅ ګران نه دی	.....	او هیڅوك به د بل چا
وَازِرَةٌ وِّزْرَ	اُخْرٰى ؕ	وَاِنْ تَدْعُ	مُثْقَلَةٌ	اِلٰى حِمْلِهَا
یو بوج اوچتونکې	بوج	دبل کس	اوکه رااوبلی	یو بوج والا سړی
بار اوچت نکړې شی	او(فرض کړه) که بار اوړونکې	دخپل بار	اوچتولو	دپاره څوك راوبلی

[1] ٤٦/الاحقاف:٥.
[2] ١٩/مریم:٨١.

لَا يُحْمَلْ	مِنْهُ	شَيْءٌ	وَّلَوْ كَانَ	ذَا قُرْبٰى ؕ	اِنَّمَا
نواوچت به نۀ کړي شی	دهغه (دبار) نه	هیڅ څیز	اګر که وی هغه	نزدي خپلوان	بیشکه
به تړي هم اوچت نکړي شی	اګر که نزدي خپلوان ئې وی	(انې پیغمبره ﷺ!) ته خو بس			
تُنْذِرُ	الَّذِيْنَ	يَخْشَوْنَ	رَبَّهُمْ	بِالْغَيْبِ	وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ
ته خبردارولې شی	هغه خلق	چې یریږی هغوئ	درب خپل نه	بې لیدو	او قائموی مونځ
داسې خلق ویرولې شې	چې دخپل رب نه بې لیدو ویریږی	اومونځونه پابندی سره کوی			
وَمَنْ تَزَكّٰى	فَاِنَّمَا	يَتَزَكّٰى	لِنَفْسِهٖ ؕ	وَاِلَى اللّٰهِ
او هغه چاچې ځان پاك کړو	پس بې شکه	هغه ځان پاکوی	دپاره دځان خپل	او خاص الله ته
او څوک چې پاک شو	نو دخپل ځان دپاره پاک شو	اوالله ﷻ ته دهر څیز واپس کیدل دی		
الْمَصِيْرُ ۝				
واپس تلل دی دټولو				

قوله تعالی:- اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ

الله تعالی ټول فناکولوباندې قادردي :- الله ﷻ د ټول مخلوق نه بې نیازه دي اوټول مخلوق د هغه محتاج دي هغه غنی دي او ټول فقیران دی. هغه بې پرواه دي اوټول دهغه حاجت مندی. دهغه په وړاندې ټول خوار دی هغه عزیز دي. دهیڅ قسم حرکت او سکون باندې څوک قادرنه دی.دساه اخستو پورې څوک وس نه لری.مخلوق بالکل بې وسه دي. غنی بې پرواه اوبې نیازه صرف هم الله ﷻ دي په ټولوخبرو باندې قادر هم هغه دي. هغه چه څه کوی په هغې کښې د تعریف قابل دي. دهغه یوکار هم د حکمت او تعریف نه خالی نه دي. په خپل قول کښې خپل فعل کښې په خپل شرع او تقدیر مقررولو کښې. غرض دهرقسم هغه بزرګ او لائق دحمد اوثنادي.اې خلقو دالله ﷻ قدرت شته چه هغه تاسو ټول غرق او برباد کړي اوستاسو په ځای نورخلق راولی. په رب باندې داکار هیڅ ګران نه دي. که د قیامت په ورځ نې څوک په بل چاباندې بارکول کوی نوداخوښه به هم د هغوی پوره نه شی.

هیڅ څوک به ملاونه شی چه دهغوی بوج اخوا کړی. خپل خپلوان به هم تړي مخ واړوی شابه کړی که هغه مور پلار اواولاد ولې نه وی. هرسړي به په خپل حال باندې مشغول وی هریوبه په خپل غم کښې اخته وی.حضرت عکرمه رضی الله عنه فرمائی ګاونډی به ګاونډی پسې اولګی. الله ﷻ ته به وائی چه د ده نه خو تپوس اوکړه ده زما نه خپله دروازه ولې بنده کړې وه. کافران به مؤمنانوپسې اولګی اوکوم احسان چه هغه په دنیاکښې ورسره کړې وو هغه به وریادکړی وائی به چه نن زه ستا محتاج یم. مؤمن به هم د هغه سفارش کوی اوکیدې شی چه دهغه عذاب لړشان کم شی خود دوزخ نه خلاصیدل محال دی. پلار به خپلو خامنوته خپل احسان وریادکړی اووائی به چه د اوری د دانې هومره نن ماله د خپلې نیکئ نه څه راکړه. هغه به وائی پلاره ته خو څیز ډیر کم غواړې خودا نن چه کومه ویره تاته ده هم هغه ماته هم ده زه خو هیڅ هم نه شم درکولې. بیابه ښځې له ورشی اوورته به وائی ماتاسره په دنیاکښې څنګه سلوک کړې دې؟ هغه به وائی ډیر ښه. دې به وائی چه نن زه ستا محتاج یم ماته یوه نیکی راکړه چه د عذابونونه خلاص شم. جواب به ورته ملاوشی چه سوال خودې ډیر کم دي خوچه په کومه ویره کښې نن ته نې هم هغه ویره ماته هم ده. نن خوزه هیڅ سلوک نه شم کولې.دقرآن کریم په بل آیت کښې دی (اَلْ

يَجْزِي وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهٖ وَلَا مَوْلُوْدٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَّالِدِهٖ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۪ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۳۳﴾ (۱) یعنی نن به نه پلارد خوئ په کار راشی اونه به خوئ د پلارپه کار راشی.یوبل ارشاد دي ﴿يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ﴿۳۴﴾ (۲) نن به انسان دخپل رور نه مور نه پلارنه بښخي نه اولاد نه تختي. هر سړي به په خپل حال کښې مست او بې خوده وي. هريوبه د بل نه غافل وي. ستا د وعظ اونصيحت نه هغه خلق فائده احستې شي چه عقل مندواودفراست خاوندان وي د خپل رب نه په قدم قدم باندې ويريږي دالله ﷻ اطاعت کوي مونخونه پابندئي سره داکونکي وي. نيك عملونه به پخپله تاسو ته فائده درکړي.کوم پاکوالې چه تاسو کوئي دهغې نفع به هم تاسو ته دررسي. آخر الله ﷻ له تلل دي د هغه مخې ته پيش کيدل دي. حساب کتاب به دهغه په وړاندې کيږي. دعملونوبدله هغه پخپله ورکونکې دي.

وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ﴿۱۹﴾ لا	وَلَا الظُّلُمٰتُ			
اونۀ برابريږي	روند	او نظر والا		اونۀ تياري
او روند اوليدونکې (دواړه) برابريدې نشي	اونه تياري			
وَلَا النُّوْرُ ﴿۲۰﴾ لا	وَلَا الظِّلُّ	وَلَا الْحَرُوْرُ ﴿۲۱﴾ ج	وَمَا يَسْتَوِي	الْاَحْيَآءُ
اونۀ رڼا	اونۀ سوري	اونۀ دنمر ګرمي	اونۀ برابريږي	ژوندي
اورڼا يوشان کيدېشي	اونه يخ سيوري اونه دنمرتو يو شان کيدېشي			اونه ژوندي
وَلَا الْاَمْوَاتُ ط	اِنَّ اللّٰهَ	يُسْمِعُ	مَنْ	يَّشَآءُ ج
اونۀ	مړي	بيشکه الله	اوروي	هغه چاته
او مړي برابريدې شي	الله ﷻ چې چا ته اوغواړي نو خبره ورته اوروي			
وَمَآ اَنْتَ	بِمُسْمِعٍ	مَّنْ	فِي الْقُبُوْرِ ﴿۲۲﴾	اِنْ اَنْتَ
وَمَآ اَنْتَ	اورونکې	هغه چاته	چې په قبرونو کښې دي	نۀ ئې تۀ
	کښې پرتو (مړو) ته خپل اواز اوورلې نشې			
اِلَّا نَذِيْرٌ ﴿۲۳﴾	اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ	بِالْحَقِّ	بَشِيْرًا	وَّنَذِيْرًا ط
مګر	بيشکه چې ليږلې ئې مونږ تۀ	دحق سره	زيږي ورکونکې	اويرونکې
مونږ ته په دې سره پيغمبر راليږلې يې	اوداسې يو امت نشته چې هغې ته (دالله ﷻ دنافرمانئ) نه			
وَاِنْ	مِّنْ اُمَّةٍ	اِلَّا خَلَا	فِيْهَا	نَذِيْرٌ ﴿۲۴﴾
مګر	تير شوي دي	په هغې کښې	خبردارونکې	او که دوئ دروغ اوګڼې تا
ويرونکې نه وي راغلې	او که چرې داخلق تا دروغژن کوي			
وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ	فَقَدْ كَذَّبَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ ج	جَآءَتْهُمْ
هغه کسانو	چې مخکښې ددوئ نه ووئ	راغلي ووئ هغوئ ته		
وړاندې تير شوي دي	هغه هم دغه شان دروغژن ګڼلې شوي وو			

رُسُلُهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	
ارسولان دهغوئ	دواضحه دليلونو سره	
هغوئ ته رسولانو		

(۱) ۳۱/لقمان:۳۳.
(۲) ۸۰/عبس:۳۴.

Scanned with Ca

وَبِالزُّبُرِ	وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ۝	ثُمَّ اَخَذْتُ	الَّذِيْنَ
او دصحيفو سره	او دکتاب روښانه سره	بيا رااونيول ما	هغه کسان
ښکاره معجزې ، صحيفې اوروښانه کتابونه راوړي وو		بيا کومو خلقو چې انکار اوکړو	
كَفَرُوْا	فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ۝		
چې وې نه منل هغه	پس څرنګې وه	سزا زما	
نوهغوئ مې راونيول	نو اوګوره چې زما عذاب څنګه وو		

قوله تعالى:- وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ۝

ژوندى اومړه برابرنه دى:- ارشاد کولې شى چه مؤمن اوکافربرابرنه دى څنګه چه بيناونابيناتياره او رڼا سورې اوګرمئ ژوندې اومړ برابر نه دى. لکه څنګه چه په دې څيزونوکښې دزمکې اوآسمان فرق دې دغه شان په ايماندار او بې ايمانه کښې هم ډيرزيات فرق دې.مؤمن په مثال دبينا رڼا سورې او ژوندى دې په خلاف د کافر چه د ړوند تيارې اوګرمئ دې. لکه چه فرمائى ﴿اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ۝﴾(۱) يعنى چه کوم مړه وو هغه مونږ بيارااژوندى کړل اوهغوى ته مو نور ورکړوپه کوم سره چه په خلقو کښې ګرځى. داسې سړې او کوم چه په تيارو کښې راګيرشوى وى د کوم نه چه وتلې هم نه شى. دا دواړه برابرکيدې شى؟ يوبل آيت کښې دى ﴿مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ وَالسَّمِيْعِ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ۝﴾(۲) يعنى ددواړو لومثال مؤمن دسترګووالا غوږونو والا رڼاوالا اونوروالا دې.بيا په نيغه لاردې چه په صحيح طريقه به د سورو او نهرونووالا جنت ته رسى اوددې په خلاف به کافرړوند کونړاو په تيارو کښې راګير شوى وى دکومې نه چه وتلې نه شى اوتيك به دوزخ ته رسى چه د ګرم تند تيزګرمئ والا داُور مخزن دې.الله ﷻ چه چاله غواړى هغه ته ئې واوروى يعنى داسې د اوريدو توفيق ورکړى چه واورى نو قبلوى هم. ته مړوته نه شې اورولې.يعنى څنګه چه څوك د مرګ نه پس په قبرکښې خښ کړې شى اوته هغه ته چغې وهې نودابې کاره دى.دغه شان کافران دى چه هدايت اودعوت دهغوى دپاره بې کاره دې.دغه شان په دې مشرکانو باندې هم دهغوى بدبختى راخوره شوې ده اود هغوى د هدايت هيڅ صورت باقى پاتې نه دې ته هغوى په يوشان هم هدايت ته نه شې راوستې. ته خو صرف خبرورکونکې ئې. ستا په ذمه باندې صرف تبليغ دې هدايت اوضلالت ورکړل د الله ﷻ د طرف نه دى.

قوله تعالى:- اِنْ اَنْتَ اِلَّا نَذِيْرٌ۝

د انبياء کرامو بعثت د عذر ختمولو دپاره شوې دې:- د حضرت آدم ﷺ نه واخله ترننه پورې رسولان راتله دې د پاره چه دهغوى عذرباقى پاتې نه شى.لکه چه بل آيت کښې فرمائى﴿وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ۝﴾ (۳)يوبل ځاى ارشاد دى ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللّٰهُ وَمِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ؕ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ۝﴾(۴) وغيره.دهغوى تادروغ ګنړل څه نوى خبره نه ده. د دوى نه وراندې خلقو هم د الله ﷻ رسولان دروغ ګنړلى چه لوئ لوئ معجزې ښکاره دليلونه اوصفاصفا

---

۱) ٦/الانعام:١٢٢.
۲) ١١/هود:٢٤.
۳) ١٣/الرعد:٧.
۴) ١٦/النحل:٣٦.

Scanned with Ca

آیاتونه ئی راوړی راغلې وو اودهغوی په لاسونوکښې نورانی صحیفې وې.اخردهغوی ددروغوګنړلو نتیجه داشوه چه ماهغوی په عذابونواوسزاګانوکښې راګیرکړل.ګوره چه بیازمادانکارنتیجه څه اوشوه څنګه تباه اوبرباد کړې شو.والله اعلم.

اَلَمْ تَرَ	اَنَّ اللّٰهَ	اَنْزَلَ			
آیا نه ګورې ته	چی بیشکه الله	نازلې کړې			
آیا تا نه دې لیدلې چې الله ﷻ					
مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَخْرَجْنَا	بِهٖ	ثَمَرٰتٍ	مُّخْتَلِفًا
د آسمان نه	اوبه	پس رااوویستلې مونږه	په هغې سره	میوې	چی مختلف دی
د پورته نه اوبه راوروی	....بیادهغې په ذریعه مونږ رنګ رنګ میوې راتوکولې				
اَلْوَانُهَا ؕ	وَمِنَ الْجِبَالِ	جُدَدٌۢ	بِيْضٌ	وَّحُمْرٌ	مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا
رنګونه دهغې	او دغرونونه	توتې دی	سپینې	او سرې	چی مختلف دی
اودغه شان غرونو کښې هم نګ رنګ غرونه دی	څه سپین او څه سره دی	چې دهغې هم قسم قسم رنګونه دی			
وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ۝	وَمِنَ النَّاسِ	وَالدَّوَآبِّ	وَالْاَنْعَامِ		
او څینې تك توروی	او دخلقو نه	او دګرزیدونکو زنده سرو نه	او دخاروو نه		
او څه تک تور دی	او دغه شان په انسانانو اوپه ځناورو اوپه څاروو کښې هم				
مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ	كَذٰلِكَ ؕ	اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ	مِنْ عِبَادِهِ		
چې مختلف دی	رنګونه دهغې	همدغه رنګې	بیشکه یریږی دالله نه	دبندګانو دهغه نه	
بعضې داسې دی	چې رنګونه ئې بدل بدل دی	دالله ﷻ نه خو بس د هغه په بندګانو کښې عالمان			
الْعُلَمٰٓؤُا ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	عَزِيْزٌ	غَفُوْرٌ ۝		
عالمان خلق	بیشکه الله	غالب دی	بښونکې دی		
ویریږی	.....بیشکه الله ﷻ په هر چا غالب اوبښونکې دی				

قوله تعالی:- مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ؕ

مختلف رنګونه هم دالله ﷻ قدرت دي :-درب د قدرتونوکمالونه ګوره چه هم په یو قسم ځیزونوکښې قسم قسم رنګونه ښکاری. یواوبه د آسمان نه راکوزیږی اوهم په دې سره د مختلف قسم او رنګ په رنګ میوې راپیداکیږی.سورسپین شین وغیره. دغه شان د هریوخوشبوجداجدا د هریوخوند بیل بیل. لکه چه بل آیت کښې دی ﴿وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ ۚ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ ۚ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝﴾[1] یعنی چرته انګوردی اوچرته کهجوری دی چرته فصلونه وغیره دی دغه شان د غرونوپیدائش هم په قسم قسم دې څه سپین دی څه سره دی اوڅه تور دی.په چا لاړې او وادئ دی څوك اوږده دی اوڅه کندې کپړې.ددې بې ساځیزونونه پس په سا والا باندې نظرواچوه.انسانان ځناور څاروی اوګوره په دوی کښې هم دالله ﷻ وضع کړې شوې ګل کارنی

[1] ۱۳/الرعد:٤.

دی.بربرحبشی طماطم بالکل تك تور وی صقالیه رومی بالکل سپین عرب درمیانه هندی دوی سره نیزدي نیزدي. وبل آیت کښې دی﴿وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ﴾[1] ستاسود خبرو اختلاف ستاسودرنګونواختلاف هم دیوپوهیدونکی دپاره دکامل قدرت یوه نښه ده.دغه شان څاروی اونورځناوررنګونواوشکلونوکښې جداجدادی.بلکه هم دیوقسم ځناوروکښې دهغوی رنګونه هم مختلف دی. بلکه دیوقسم ځناور په بدن باندې مختلف رنګونه وی.سبحان الله دټولونه نښه خالق الله ﷻ څنګه دبرکتونووالا دي. مسندالبزارکښې دی یوسړی د رسول الله ﷺ نه سوال اوکړو چه الله ﷻ د رنګونوګډوډوالې هم کوی حضورﷺ اوفرمائیل او. داسې رنګ ورکوی چه چرې به هم پیکه کیږی نه سور زیړ اوسپین. (۲) داحدیث مرسل اوموقوف هم نقل دي.

قوله تعالی:- إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ۗ

حقیقی عالم څوک ته وائی ؟:- دي نه پس ئی اوفرمائیل چه څومره د الله ﷻ نه ویره کول پکاردی دومره ویره خو دهغه نه صرف علماء کوی؟ځکه چه هغوی پوهیږی اوپیژنی. په حقیقت کښې چه کوم سړي د الله ﷻ دکوم قدرت متعلق څومره معلومات ډیرلری نوهم هغه هومره به د دغه عظیم قدیر علیم الله ﷻ عظمت او بزرګی دهغه په زړه کښې زیاتیږی اودومره به د هغه ویره دهغه په زړه کښې زیاته وی څوک چه پوهیږی الله ﷻ په هرڅه باندې قادر دی هغه به قدم په قدم دهغه نه ویریږی. د الله ﷻ سره هغه ته ربښتونې علم حاصل دي. څوك چه د هغه ذات سره څوك شریك نه کړی. دهغه حلال کړي شوي حلال او حرام کړي شوی کارونه حرام اوګنړی. د هغه په فرمان باندې یقین اوکړی د هغه د وصیت ساتنه اوکړی. دهغه ملاقات حق اوګنړی اود خپلو عملونو حساب ربښتیا اوګنړی. ویره یوقوت وی چه د بنده اوالله ﷻ د نافرمانئی په مینځ کښې حائل کیږی نوعالم خو وائی هم ده ته چه پټ هم د الله ﷻ نه ویریږی او دالله ﷻدرضامندئی رغبت کوی اودهغه دخفګان دکارونونه نفرت کوی.ابن مسعودﷺ فرمائی چه د خبرو زیاتوالی نوم علم نه دي علم نوم دي په کثرت سره دالله ﷻ نه ویریدلوته. دحضرت امام مالك رحمه الله قول دي چه د روایاتوکثرت علم نه دي علم خویونور دي کوم چه الله ﷻ د خپل بنده په زړه کښې اچوی.احمدصالح مصری رحمه الله فرمائی علم د روایاتود کثرت نوم نه دي بلکه علم نوم دي دهغه د کوم تابعداری چه د الله ﷻ د طرف نه فرض دي یعنی کتاب اوسنت اوکوم چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم او ائمه حضراتو نه رسیدلې وی هغه په روایت سره حاصلیږی. نوراورنړا کومه چه د بنده نه وړاندې وړاندې کیږی هغه علم اود هغې په مطلب باندې نښه پوهیږی.

علماءکرامو قسمونه:-روایت دي چه دعلماؤدري قسمونه دی عالم بالله عالم بامرالله اوعالم بالله او بامرالله.عالم بالله عالم بامرالله نه دي اوعالم بامرالله عالم بالله نه دي. اوعالم بالله اوبامرالله هغه دي چه دالله ﷻ نه ویریږی اوحدود اوفرائض پیژنی. عالم بالله هغه دي چه دالله ﷻ نه ویریږی خوحدوداو فرائض نه پیژنی.عالم بامرالله هغه دي چه حدود اوفرائض خوپیژنی خودهغه زړه د الله ﷻ د ویري نه خالی وی.

إِنَّ الَّذِينَ	يَتْلُونَ
بیشکه هغه کسان	چی لولی
بیشکه هغه کسان چې	

[1]) ۳۰/الروم:۲۲.
[2]) البزار:۲۹٤٤.

كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

کتاب دالله | او قائیموی مونځ | او خرچ کوی | دهغې نه | چې ورکړې دی مونږ هغوئ له
خوک دالله ﷻ دکتاب تلاوت کوی | اود مونځ پابندی کوی | .....او زمونږ دورکړې رزق نه

سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ۝

په پټه | او په ښکاره | امید لری هغوئ | دداسې تجارت | چې هرګز به نقصان نه کوی |
په پټه اوپه ښکاره خیراتونه کوی | هغوئ دداسې تجارت امید لری | چې هیڅرې تاوان نه کوی

لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ

دپاره ددې چې الله پوره ورکړې هغوئ له | اجرونه دهغوئ | اوزیات ورکړې هغوئ له | دفضل خپل نه
دا خکه چې الله ﷻ هغوئ ته (دخپل عمل) پوره پوره اجرونه ورکړې | اوپخپل فضل ئې نور زیات کړې

اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ۝ وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

بیشکه هغه | ببنونکې دی | قدردان دی | او هغه | چې وحی کړې دی مونږه | تاته |
هغه بخښونکې قدردان دی اومونږ چې تاته داکتاب د وحی په ذریعه رالیږلی دی

مِنَ الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ

دکتاب نه | هغه حق دی | تصدیق کونکې دی | دهغه کتابونو | چې مخکښې ددې نه دی |
دا بالکل حق (کتاب) دی | اوددې نه وړاندې چې کوم کتابونه نازل شوی دی | دهغې تصدیق کونکی دی

اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ۝ ثُمَّ

بیشکه الله | په بندګانو خپلو باندې | خامخا خبردار دی | نظر ساتونکې دی په هر څیز | بیا
بیشکه الله ﷻ دخپلو بندګانو په حال نبه خبر دی | .....هرڅه وینی ګوری | .....بیا

اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ

وارثان کړل مونږه | ددې کتاب | هغه کسان | چې غوره کړل مونږه | دبندګانو خپلو نه |
داکتاب مونږه هغه بندګانو ته په میراث کښې ورکړو | چې مونږ په نورو بندګانو کښې غوره کړی وو

فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ

پس ځینې دهغوئ نه | ظلم کونکې دی | په خان خپل | او ځینې د هغوئ نه | میانه حال دی |
نو اوس په کښې څوک په خپل خان زیاتی کوی | اوڅوک په کښې میانه حال دی

وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

او ځینې دهغوئ نه | مخکښې کیدونکی دی | دنیکو سره | په حکم دالله | دا | هغه |
اوڅوک په کښې دالله ﷻ په فضل په نیکیو کښې مخ په وړاندې روان دی | .....هم دا

الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ؕ ۝

فضل | لوئ دی |
ډیر لوئې فضل دی |

Scanned with Ca

قوله تعالى:- إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ اللَّهِ

دمؤمنانوصفتونه:- دمؤمنانوبندیګانویونیك صفت بیانولې شی چه هغوی دالله تعالی د کتاب په تلاوت کښې مشغول وی.په ایمان کښې وړاندې کیږی.عمل هم د لاس نه نه پریږدی.دمانخه پابندزکوة خیرات اموخته پټ اوښکاره د الله ﷻ بندیګانو سره ښه سلوك کونکی دی اودخپل مال دثواب دالله ﷻ نه امیدواردی.دکوم ملاویدل چه یقینی دی لکه څنګه چه ددې تفسیرپه شروع کښې فضائل قرآن په ذکرکښې مونږ بیان کړی دی چه کلام الله به خپل ملګری ته وائی چه هریوسوداګر خپل تجارت پسې دې اوته ټولو تجارتونوپسې ئی دوی ته به د دې پوره ثواب ملاویږی بلکه ډیر زیات به ورته ملاویږی د کوم چه دوی خیال هم نه شی کولې.الله ﷻ د ګناهونوبښونکې دې اود لږ اووړوکی عمل هم قدردان دې.حضرت مطرف رحمه الله خو دې ته دقاریانو آیت وائی.دمسندپه یوحدیث کښې دی الله ﷻ چه کله د یو بنده نه راضی کیږی نوپه هغه د نیکو ثناکوی کومې چه هغه کړې نه وی.اوکله چه دچانه ناراض شی نو دغه شان د بدو(۱) خودا حدیث ډیرزیات غریب دې.

قوله تعالى:- هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا

قرآن پاک د الله ﷻ ریښتونې کلام دې :قرآن پاك د الله ﷻ حق کلام دې څنګه چه وړاندینو کتابونو د دې خبرورکولودې هم دهغه وړاندینورښتونوکتابونوصداقت ثابت کوی.رب خبیر اوبصیردې.د فضیلت هر یو مستحق ښه پیژنی. انبیاءکرامو ته الله ﷻ په انسانانوباندې هغه د خپل وسیع علم په وجه فضیلت ورکړې دې.بیائی په انبیاءکرامو کښې پخپلوکښې مرتبې مقررکړی دی.اوعلی الاطلاق محمد ﷺ درجه د ټولونه لوړه ده الله ﷻ دې په خپلو ټولو انبیاءکرامو باندې سلام اولیګی.

قوله تعالى:- ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَٰبَ

په قرآن پاک باندې عمل کونکې خلق او دهغوئ درې قسمونه:- د کوم کتاب چه پورته ذکر شوې وو هغه بزرګ کتاب یعنی قرآن پاك مونږ هغه د خپلو خوښ کړې شوو په لاس کښې ورکړو یعنی د دې امت په لاسونوکښې. بیا په دې درې قسمه خلق شو. بعضې خولږ شان وړاندې روستوشوهغه د نفس ظالمان ګنډلې کیدل دهغوی نه څه دحرمت والا کارونه هم شوی.بعضې درمیانه درجه کښې دی کومو چه د محرماتونه ډډه اوکړه واجبات ئی په ځائ راوړل خوکله کله یو مستحب کار هم د هغوی نه پاتې شو او کله تری وړه غوندې نافرمانی هم شوې. بعضې په درجوکښې ډیر وړاندې شو واجبات خوپریږده چه مستحبات هم دهغوی نه نه دی پاتې شوی. محرمات څه چه دمکروهاتونه هم یوشان جداشو بلکه بعضې وخت ئی مباح څیزونه هم د ویرې نه پریخودی دی.

د (اصْطَفَيْنَا)نه مراد څوک دی؟ :-ابن عباس ﷺ فرمائی د خوښ کړې شوی بنده نه مرادامت محمدیه دی چه دالله تعالی هریود کتاب وارث جوړکړې دې. په دوی‌کښې چه کوم په خپلو ځانونو باندې ظلم کوی هغوی به اوښلې شی اوپه هغوی کښې چه کوم درمیانه خلق دی دهغوی نه به په آسانئی سره حساب اخستې شی. اوپه دوی کښې چه کوم په نیکوکښې وړاندې کیدونکی دی هغوی به بې حسابه جنت ته بوتلې شی(۲)طبرانی کښې حضوراکرم ﷺ فرمائیلی زماشفاعت زمادامت د کبیره ګناه کونکو دپاره دې.ابن عباس ﷺ فرمائی سابق خلق خوبه بغیردحسابه جنت کښې داخل کړې شی اوپخپلونفسونو باندې ظلم کونکی اواصحاب اعراف به د حضرت محمد ﷺ په شفاعت سره جنت ته خی. (۳) الغرض د

---

(۱) احمد:۳/٤۰ ابن حبان:۳٦۸، مسندابی یعلی:۱۳۳۱، مجمع الزوائد:۱/۲۷۲.

(۲) الطبری:۲۰/٤٦۵.

(۳) طبرانی:۱۱٤۵٤

دي امت وړوکی ګناهګاران به هم د الله ﷻ په خوښ کړي شوو بنديګانو کښې داخل وی.فالحمدلله.
د اکثروسلفوقول هم دادي خوبعضي سلفوداهم فرمائيلی دی چه داخلق خونه په دي امت کښې داخل دی اونه غوره شوی اوخوښ کړي شوی دی. نه د کتاب وارثان دی بلکه دي نه مراد کافرمنافق اوپه ګس لاس باندي عمل نامه ورکړي شوی خلق دی. نودادريواړه قسمه هم هغه دی د کومو بيان چه د سورت واقعه په اول اوآخره کښې شوي دي. يعنی چه داکوم دري قسمونه شميرکړي شوی دی دا د غوره خلقو نه دی بلکه د بنديګانودی يعنی ﴿عبادنا﴾ دی چه هغه کوم کوم قسمونه دی. خوصحيح قول هم دا دي چه داهم په دي امت کښې دی. امام ابن جرير رحمه الله هم دا قول خوښوی اود آيت ظاهری الفاظ هم دغه دی. د احاديثونه هم دا ثابتيږی. په يوحديث کښې دی دادريواړه لکه چه يودی اودريواړه جنتيان هم دی[1]داحديث غريب دي اود دي حديث په راويانوکښې يوراوی دي چه د هغه نوم ذکر نه دي.اوپه مرتبوکښې فرق کيدل لازمی دی.په دويم حديث کښې دی حضور ﷺ د دي آيت تلاوت کولونه پس اوفرمائيل سابقين خو به بې حسابه جنت ته داخليږی اود درميانه خلقو نه به په آسانئی سره حساب اخستې شی.او پخپلو نفسونوباندي ظلم کونکی دمحشر په اوږدوالی کښې به رامنع شی. بيابه ئی د الله ﷻ په رحمت باندي تلافی اوشی او دوی به وائی چه د الله ﷻ شکردي چه هغه زمونږ نه غم اوتکليف لري کړو.زمونږ رب ډيرغفوراو شکوردي چاچه په خپل فضل سره د اوسيدو داسې خای راکړو چرته چه مونږ له هيڅ درد اوتکليف نشته.[2]

د ابن ابی حاتم په الفاظوکښې کمې زياتې دي ابن جرير رحمه الله هم دا حديث روايت کړي دي. په دي کښې دی چه ابوثابت ﷺ جمات ته راتلواوحضرت ابودرداء ﷺ سره کيناستو اودعائې کوله اې الله زما دپاره د وحشت سامان راکړي اوزماپه غريبئی باندي رحم اوکړي اوماته څوک ښه غوندي ملګری کړي. دي اوريدو سره صحابی ﷺ د هغه طرف ته متوجه شو اوورته فرمائی چه هم زه ستا ملګری وو. واوره زه د رسول الله ﷺ هغه حديث نن تاسو ته اورم کوم چه ما ترننه پوری چاته نه دي بيان کړي. بيا د دي آيت تلاوت اوکړووئی فرمائيل ﴿سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ﴾ خو به جنت ته بې حسابه ځی او ﴿مُّقْتَصِدٌ﴾ دخلقو نه به په آسانئی سره حساب اخستې شی. او ﴿ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ﴾ ته به لکه چه دي دنيا کښې غم اوتکليف اورسی د کوم نه چه به خلاصې بيامومی نووائی به دالله تعالی شکردي چاچه مونږ نه غم اودردلري کړو. په دريم حديث کښې دی حضوراکرم ﷺ د دي دريواړو باره کښې فرمائيلی دی چه دا ټول هم د دي امت نه دی[3]په څلورم حديث کښې دی چه زما د امت به دري حصې وی يوه بې حسابه او بې عذابه جنت ته تلونکي ده، دويمه سره آسان حساب کيدونکي دي او بيا جنت ته داخليدونکي. دريم به هغه ډله وی د کومونه چه به تپوس پوښتنه خامخاکيږی. خوبيا به فرښتې حاضريدوسره وائی مونږ دوی په لااله الاالله وحده وئيلو سره وينی. الله ﷻ به فرمائی رښتيادی چه زمانه بل څوک معبود نشته. ښه ده ما دوی د خپل دي وينا په برکت پريخودل. دوی جنت ته بوځی اود دوی خطاګاني په دوزخيانو باندي واچوئی. هم د دي ذکر ﴿وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ ۫ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾[4] کښې دی.يعنی هغوی به خپل بوج سره ددوی بوج اوچتوی.د دي تصديق پدي کښې دي په کوم کښې چه د فرښتو ذکردي. الله ﷻ پخپلو بنديګانوکښې کوم چه دکتاب وارثان جوړکړی دی دهغوی ذکرکولوسره د هغوی دري قسمه خودلې شوی دی. په دي کښې چه په خپلو ځانونوظلم کونکی دی. د دي تپوس پوښتنه به کيږی.

---

[1]) ترمذی کتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة الملائكة: ۳۲۲۵، احمد:۷۸/۳.
[2]) احمد:۱۹۸/۵
[3]) طبرانی:٤١٠، مجمع الزوائد:۹۹/۷، حاکم:٤٢٦/٢.
[4]) ۲۹/العنکبوت:۱۳.

Scanned with Ca

حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه د دې امت به د قیامت په ورځ دري ډلې وی. یوه بې حسابه جنت ته تلونکې، یوه په آسانئی سره حساب اخستونکې یوه ګناهګاره چه دهغې په نسبت به الله معلومان فرمائی سره د دې چه هغه ته ښه معلومه ده چه داځوک دی؟ فرښتې به وائی ای الله ﷻ دوی سره خو لوئ لوئ ګناهونه دی. ولې دوی چرې هم تاسره ځوک شریك نه دې ګرځولې. الله رب العزت به فرمائی چه دوی زما په رحمت کښې داخل کړه. بیا حضرت عبدالله ﷺ هم د دې آیت تلاوت اوکړو. (ابن جریر).دویم اثر دادې چه د حضرت عائشه صدیقه ﵂ نه د دې آیت باره کښې سوال اوکړې شو نوهغوی فرمائی بچې دا ټول جنتی خلق دی. ﴿سابق بالخیرات﴾ هغه خلق دی کوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو. کوموته چه پخپله رسول الله ﷺ د جنت زیرې ورکړې دې. ﴿مُقْتَصِدٌ﴾هغه دی کوم چه د هغوی د نقش قدم تابعداری کړې تردې چه هغوی سره ملاوشو. ﴿ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ﴾ زمااوستاپه شان دی.(۱) خیال اوکړئی چه حضرت عائشه صدیقه ﵂ سره د دې چه ﴿سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ﴾ نه بلکه د دې نه هم د بهتر درجې والا نه ده خوځنګه خپل ځان عاجزګنړی. په حدیث کښې راغلی دی چه په ټولوښځو باندې دحضرت عائشه صدیقه ﵂ هغه فضیلت دې کوم فضیلت چه ثریدته په نورو خوراکونوباندې دی(۲) حضرت عثمان بن عفان ﷺ فرمائی ﴿ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ﴾خوزمونږ بدوان خلق دی﴿ مُقْتَصِدٌ﴾ زمونږ د بناریو خلق دی اوسابق زمونږ مجاهددی. (ابن ابی حاتم) حضرت کعب احبار ﵀ فرمائی دري قسمه خلق د دې امت نه دی اوټول جنتیان دی. ځکه چه الله ﷻ د دې دریواړوقسموخلقوذکرکولونه پس دجنت ذکر فرمائیلو سره بیافرمائی﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ﴾(۳)داخلق دوزخیان دی.(ابن جریر) حضرت ابن عباس ﷺ د کعب ﵀ نه د دې آیت باره کښې سوال اوکړو نوهغوی اوفرمائیل دکعب درب قسم دا ټول هم په یوه زمره کښې دی.اود عملونو په مطابق د هغوی درجې کمې زیاتې دی. ابواسحاق سبیعی ﵀ هم د دې آیت باره کښې فرمائی چه دا دري واړه قسم ډلو خلاصې بیامونږلې دې.

محمدبن حنفیه ﵀ فرمائی دامت مرحومه دې.ددې ګناهګاران به اوښښلې شی اوددوی مقتصدبه الله ﷻ سره په جنت کښې وی اود هغوی سابق به په اوچتو درجوکښې وی. محمدبن علی باقر ﵀ فرمائی چه دلته کوموخلقوته ﴿ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ﴾ وئیلې شوې دې داهغه خلق دی کومو چه ګناهونه هم کړی وو او نیکئی هم. دا احادیث اوآثار مخې ته کیخودو سره داخوصفامعلومیږی چه په دې آیت کښې عموم دې اود دې امت دې دریواړو ډلوته دا شامل دې. نوعلماء کرام ددې نعمت سره د ټولونه زیات د رشك قابل ئی. اود دې رحمت د ټولونه زیات حقداردې.

ددین په طلب کښې د وتونکی فضیلت:.لکه چه دمسنداحمدپه حدیث کښې دی یوسړې د دمشق نه حضرت ابودرداء ﷺ له ځی اوهغوی سره ملاقات کوی نوهغوی معلومات کوی چه خوږه روره دلته دې څنګه راتګ اوکړو؟ هغه وانی د دې حدیث د اوریدو د پاره راغلې یم کوم چه تاسو بیانوئی. تپوس ئی اوکړودځه تجارت په غرض سره نه ئی راغلې؟جواب ئی ورکړو نه. تپوس ئی اوکړوبیا به دې څه بل مطلب وی؟ وئیل هیڅ مطلب مې نشته. بیائی تپوس اوکړوچه د حدیث دطلب د پاره دې داسفراوکړو؟ جواب ئی ورکړو چه او. ونی فرمائیل چه واوره ماد رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی کوم سړې چه د علم د لتون دپاره په یوه لار لاړشی الله ﷻ به هغه دجنت باغونوته اورسوی.د الله ﷻ د رحمت فرښتې د طالب

---

(۱) حاکم:۲/٤۲٦

(۲) صحیح بخاری کتاب اصحاب النبی باب فضل عائشة رضی الله عنها:۳۷۷۰، صحیح مسلم:۲٤٤٦.

(۳) ۳۵/فاطر:۳٦.

Scanned with Ca

علمانودپاره وزري خوروی.خکه چه هغوی دده نه ډیر خوشحالیږی.اودهغه دخوشحالئی غوښتنې کوی.دعالم دپاره دزمکې او آسمان هریوخیزاستغفارکوی.تردې چه په اوبوکښې دننه کبان هم په عابد باندې د عالم فضیلت داسې دې لکه د سپوږمئی فضیلت چه په ستورو باندې دې. عالمان د انبیاؤ کرامو وارثان دی. انبیاؤکرامو په خپل وراثت کښې درهم اودینارونه نه دی پریخی د هغوی وراثت د دین علم دې چاچه دا واخستلو هغه ډیر لوئ دولت حاصل کړو(۱)د دې حدیث ټول طریق الفاظ اوشرح ما د صحیح بخاری کتاب العلم په شرح کښې په تفصیل سره بیان کړی دی. فالحمدلله. د سورت طه په شروع کښې هغه حدیث تیرشوی دې کوم کښې چه رسول الله ﷺ فرمائی د قیامت په ورځ به الله ﷻ علماؤ ته فرمائی ما خپل علم اوحکمت هم د دې د پاره درکړې وو چه زه تاسو اوببنم که تاسو هرځنګه نی د دې ماته هیڅ پرواه نشته.(۲)

جَنّٰتُ عَدْنٍ	يَّدْخُلُوْنَهَا
جنتونه دی دهمیشه اوسیدو	چی ننوزی به دا خلق هغې ته
دوئ دپاره د همیشه اوسیدو باغونه دی	چې دوئ بۀ ورته داخلیږی
يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ	
ښائیسته کولې به شی	په هغې کښې په بنګړو دسرو زرو سره او په ملغلرو سره
هلته به ورته .....د سرو زرو بنګړی او ملغلرې اچولې شی	
وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ۝ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ	
او جامې دهغوئ به	په هغې کښې دریښمو وی او وائی به ثناده الله لره هغه (الله)
او هلته به دهغوی جامې د ریښمو وی	اودا بۀ وائی چې ټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی کوم
اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ ۝ شَكُوْرٌ ۝	
چې لرې نې کړو	زمونږ نه خفګان بیشکه رب زمونږ ه خامخا ببنونکې دې قدرکونکې دې
چې زمونږ نه غم لرې کړو	.....زمونږ رب یقیناً ببنونکې اوقدردان دې
الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا	
هغه ذات	چې دیره نې کړومونږه په کورداستوګنې کښې په فضل خپل سره اوس نۀ رسیږی مونږ ته
هغه ذات چې مونږ ئې په خپل فضل سره دهمیشه اوسیدو ځائې ته راوستو	چې نه به په کښې
فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ۝	
په دې کښې	مشقت (سختی) اونۀ رسیږی مونږ ته په دې کښې سترې والې
راته څه تکلیف رارسی	اونه به چرې سترې کیږو اوکومو کسانو چې کفر کړې دې

(۱) ابوداؤد کتاب العلم باب فی فضل العلم: ۳٦٤١ ترمذی: ۳٦٨٢، ابن ماجه: ۲۲۳، احمد: ۱۹٦/٥، ابن حبان: ۸۸.
(۲) الطبری: ۱۳۸۱.

قوله تعالی:- جَنّٰتُ عَدْنٍ

په جنتیانوباندې انعامونه: فرمائی چه کوم غوره خلق مونږ دکتاب الله وارثان کړی دی هغوی به د قیامت په ورځ دهمیشه والی د مودامووالی اوابدی نعمتونووالا جنتونوته رسوو.چرته چه به هغوی ته دسرو زرو او سپینو زرو بنګړی اچولې شی. په حدیث کښې دی چه دمؤمن کالی به ترهغه ځایۍ پورې وی دکوم ځای پورې چه د ده د اودس اوبه رسی(۱)دهغه لباس به هلته د خالص ریښمو وی د څه نه چه هغوی په دنیا کښې منع کړې شوی وو.

قوله تعالی:- يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا

دنیا کښې سرۀ زر او ریښم استعمالولونکی به جنت کښې ددې نه محروم وی:- حدیث کښې دی کوم سړې چه دلته په دنیاکښې حریر اوریښم اغوندی هغه ته به په آخرت کښې دانه شی اغوستلې(۲)یوبل حدیث کښې دی چه دا ریښم د کافرانو د پاره په دنیاکښې دی اود ستاسود مؤمنانود پاره په آخرت کښې دی.(۳)حدیث کښې دی رسول الله ﷺ د جنتیانود کالو باره ذکر کولوسره اوفرمائیل دوی ته به د سرو زرواو سپینوزروکالی اچولې شی چه مرغلرې به په کښې پیللې شوې وی.دهغوی په سرونوبه د یاقوتو تاجونه وی چه بالکل بادشاهانه غوندې به وی هغوی به ځوانان وی د بغیرویښتو والا سره ببښنو سترګو والا. هغوی به دالله تعالی شکریه اداکولوسره وائی د الله ﷻ احسان دې چاچه زمونږ نه خوف اوویره ختمه کړه اود دنیا اوآخرت دپریشانو اوپښیمانونه ئی مونږ له خلاصې راکړو.په حدیث شریف کښې دی لا اله الا الله والا باندې به په قبرونوکښې اوپه میدان محشرکښې هیڅ ویره اوغم نه وی. زه خوهغوی اوس وینم چه د خپلوسرونونه دوړې څنډی وائی دالله ﷻ شکر دې چاچه مونږ نه غم اوخفګان لرې کړوبه طبرانی کښې دی د مرګ په وخت کښې به هم په هغوی باندې څه ویره نه وی.دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه د هغوی لوئ لوئ او ډیرزیاتې خطاګانې به معاف کولې شی. او وړې وړې اود کم مقدار والا نیکئی په قدر سره قبلولې شی.دوی به وائی دالله ﷻ شکردې چاچه په خپل فضل اورحم سره لطف اوکرم سره داپاک اواوچت مقامات راکړه.زمونږ عملونه خود دې قابل نه وو.په یوبل حدیث شریف کښې دی په تاسوکښې یوهم دهغه عمل جنت ته نه شی رسولې.خلقو تپوس اوکړو تاسو هم؟ وئی فرمائیل زه خو په هغه صورت کښې چه د الله ﷻ رحمت ماسره وی(۴)هغوی به وائی چه دلته خومونږ ته نه د څه قسم مشقت اومحنت شته اونه سترې کیدل او تکلیف شته. روح ئی خان له خوشحاله دې او بدن ئی خان له. دابدله ده د کوم چه په دنیاکښې دالله ﷻ په لارکښې تکلیفونه اوچت کړی وو.نن راحت اوهم راحت دې.دوی ته وئیلې شوی دی د خپلې خوښې اود خپل زړه د خوښې خوراک څښاک کوئی.دهغې په بدله کښې چه په دنیاکښې تاسو زما فرمان بردارئی کړی دی.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا	لَهُمْ	نَارُ جَهَنَّمَ ۚ	لَا يُقْضَىٰ	عَلَيْهِمْ
او هغه کسان چې کفر نې کړې دې	هغوئ لره دې اوور ددوزخ	حکم به نۀ کیږی		په هغوئ باندې
اوکومو کسانو چې کفر کړې دې	هغوئ دپاره د دوزخ اور تیار دې	نه به د هغوی په حق کښې د مرګ فیصله		

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب تبلغ الحلیة حیث یبلغ الوضوء: ۲۵۰.

(۲) صحیح بخاری کتاب اللباس باب لبس الحریرللرجال وقدرمایجوزمنه: ۵۸۳٤،صحیح مسلم: ۲۰٦۹، السنن الکبری: ۹۵۸٤.

(۳) صحیح بخاری حواله سابق: ۵۸۳۱،صحیح مسلم: ۲۰٦۷.

(٤) صحیح بخاری کتاب المرضی باب تمني المریض الموت: ۵٦۷۳، صحیح مسلم: ۲۸۱٦، احمد: ۲/۲٦٤،ابن حبان: ۳٤۸.

Scanned with Ca

فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۚ كَذٰلِكَ نَجْزِي
چې مړه شي اونه ئې سپک کړې شي ادهغوئ نه ادعذاب ددغه دوزخ نه ادارنګې ابدله ورکوؤ مونږه
کیږي چې مړه شي اداو بې غمه شي، اونه به ترې د دوزخ عذاب کمولې شي امونږ هر یو کافرته هم دغه شان
كُلَّ كَفُورٍ ۝ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا ۚ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا
هر کفر کونکی ته اداو هغوئ به فریاد کوی اپه هغې کښې اے ربه زمونږه اداو باسې مونږه
سزا ورکوو اداو دوئ به په کښې دننه چغې وهی اچې ائې زمونږ ربه مونږ ددې اور نه بهرته اوباسه
نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ۚ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ
چې عمل اوکړو انیک امختلف دهغې نه اچې ووئمونږه اچې کوؤبه مونږ آیا عمر نه ووؤ درکړې مونږ تاسو ته
چې د نیکئ کارونه اوکړو ادهغې نه خلاف چې پخوا به مو کول اداللہ تعالی به اوفرمائی چې آیا مونږ تاسو
مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ
هغه قدرله اچې نصیحت اخلی اپه هغې کښې اهغه څوک اچې نصیحت اغستل غواړی
ته دومره عمر نه وو درکړې اکه چا په کښې نصیحت قبلول غوښتئ نو قبلولې ئې شو اوولې تاسو ته
وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ۝
او راغلې ووؤ تاسو ته اخبردارونکې اپس اوځکئ مزه اپس نشته دې ظالمانولره اخوک مددګار
ویرونکې نه وو راغلې ؟ نو اوس د عذاب خوند اوځکئ اد ظالمانو د پاره به څوک مددګار نه وی

قوله تعالی:-وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ

د دوزخیانوسزا:-دنیکانوخلقو حال بیانولونه پس اوس دخرابوخلقو حال بیانولې شی چه دوی به د دوزخ په اورکښې سوزیږی اولولپه کیږی.هغوی له به هلته مرګ هم نه راځی چه مړه شی. لکه چه بل آیت کښې دی ﴿ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ﴾[1] نه به هغوی له هلته مرګ راځی اونه به څه ښه ژوندملاویږی. صحیح بخاری کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی کوم چه ابدی دوزخیان دی هغوی ته به هلته مرګ نه راځی اونه به ورته ښه ژوندملاویږی. [2] هغوی به وائی ای د جنت داروغه هم ته الله ﷻ ته دعااوکړه چه هغه مونږ له مرګ راولی. خوجواب به ملاویږی چه تاسو خو به هم دلته پراته ئی. نوهغوی خو به مرګ د څان د پاره راحت ګنړی. خوهغه به ورله راځی نه، نه به مری اونه به ئی په عذابونوکښې څه کمی راځی. لکه چه بل آیت کښې دی ﴿إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ۝ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ﴾[3] یعنی کافران به همیشه په عذاب کښې پراته وی کوم عذاب چه به چرې هم نه اخواکیږی نه به کمیږی. دوی د ټولې ښیګړې نه ناامیده شی یوبل ځائ ارشاد دی ﴿كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا﴾[4] ددوزخ اُوربه همیشه تیزیږی.

---

[1] ۸۷/الاعلی:۱۳.

[2] صحیح مسلم کتاب الایمان باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدین من النار:۱۸۵، احمد:۱۱/۳، ابن ماجه:۴۳۰۹، ابن حبان:۱۸٤.

[3] ۴۳/الزخرف:۷٤-۷۵.

[4] ۱۷/الاسراء:۹۷.

Scanned with Ca

فرمائی ﴿فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا﴾[1] واخلئی اوس مزه اوځکئی ستاسو د پاره هم عذاب دې چه ستاسو دپاره به زیاتیږی اودکافرانوهم دغه بدله ده.هغوی به چغې صورې وهی اوهائی وائی به کوی ددنیا طرف ته به واپس کیدل غواړی اقراربه کوی چه اوس به مونږگناه نه کوونیکئی به کوو. خواللہ تعالی ښه پوهیږی که دوی واپس هم لاړشی نوهم هغه سرکشی به کوی. د دې د پاره به د دوی دا ارمان نه شی پوره کولې. لکه چه بل ارشاد دې چه دوی ته به د دې سوال په جواب کښې وئیلې شی چه تاسو هم هغه ئی چه کله به د اللہ ﷻ د وحدانیت بیان کیدلو نوتاسو به انکارکولو. هلته به تاسوله د هغه سره په شرک کولوکښې مزه درتله. نوکه اوس هم تاسو واپس کړې شوئی نو هم هغه به کوئی د کوم نه چه منع کولې شوئی. نو فرمائی به په دنیاکښې تاسو ډیر ژوندتیرکړو تاسو په هغه اوږد ژوندکښې هرڅه کولې شو. مثلاً اویاکاله ژوندی پاتې شوئی.

قوله تعالی:- اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ

طویل عمر هم په انسان حجت وی:-قتاده رحمه الله فرمائی چه اوږدعمر هم دالله ﷻ د طرف نه حجت پوره کیدل دی.دالله ﷻ نه پناه غوښتل پکاردی چه دعمرزیاتیدوسره انسان په بدوکښې هم وړاندې کیږی.که اوګورې نودا آیت چه د کله نه نازل شوې دې هغه وخت بعضې خلق هم د اتلسو کالودعمر وو. وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چه دې نه مراد شل کاله عمر دې. حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی د څلویښتوکالوپه عمرکښې انسان له هوښیاریدل پکاردی.ابن عباس رضی الله عنه فرمائی دومره عمر ته رسیدل د اللہ ﷻ د طرف نه عذر بندیدل دی. هم دهغوی نه شپیته کاله نقل دی. اوهم دغه زیات صحیح هم دی. لکه چه په بو حدیث کښې هم دی.

امام ابن جریر رحمه الله ددې په سندکښې کلام کوی خود هغه کلام ټیک نه دې. دحضرت علی رضی الله عنه نه هم شپیته کاله روایت دی. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه د قیامت په ورځ به یوآواز داهم وی چه شپیتو کالو عمر پورې رسیدونکی کوم ځائ دې؟ خود دې سندصحیح نه دې. مسنداحمدکښې دی رسول الله ﷺ فرمائی خوک چه الله تبارك وتعالی د شپیتو اویاؤ کالو عمر ته اورسول نودهغه به هیڅ یوعذرداللہ ﷻ په نیز نه چلیږی[2] صحیح بخاری کتاب الرقاق کښې دی دهغه سړی عذر الله ﷻ پرې کړوځوك ئی چه شپیته کاله په دنیاکښې اوساتلو[3] ددې حدیث نور اسنادهم دی. که چرې نه هم وی نو صرف دامام بخاری رحمه الله داپه خیل صحیح کښې نقل کول ددې دصحت د ثبوت دپاره کافی وو.د ابن جریر رحمه الله داوینا چه د دې د سند لټولو ضرورت نشته د امام بخاری په صحیح وئیلوپه مقابله د یوې اوربشې هم قیمت نه لری. والله اعلم.بعضې خلق وائی چه دطبیبانو په نیز خپل عام عمر یوسل اوشل کاله دې.دشپیتوکالوپورې خوانسان لوئیدوته وړاندې کیږی بیا په کمیدوباندې شروع شی. نو په آیت کښې هم داعمر مراد اخستل ښه دی اوهم دا د دې امت غالب عمر دې. یوحدیث کښې دی زما د امت عمرونه د شپیتواو اویاؤکالو پورې دی اود دې نه وړاندې کیدل ډیرکم دی.(ترمذی وغیره)[4]

امام ترمذی رحمه الله خود دې حدیث په نسبت فرمائی ددې بل یوسندهم نشته.خوحیرانتیاده چه امام صاحب رحمه الله داځنګه اوفرمائیل. د دې یوبل سند په ابن ابی الدنیاکښې موجود دې. اوپخپله په ترمذی شریف کښې هم دا حدیث په بل سندسره کتاب الزهدکښې نقل دې. په یوبل ضعیف حدیث کښې دی زما په امت کښې به د اویاؤکالوعمر والاهم ډیرکم وی. یوبل روایت کښې دی د حضوراکرم ﷺ نه د

---

[1] ۷۸/النباء: ۳۰.
[2] الطبری: ۲/۲۷۵.
[3] صحیح بخاری کتاب الرقاق باب من بلغ ستین سنة فقد.....: ۶۴۱۹، بیهقی: ۳/۳۷۰.
[4] ترمذی کتاب الدعوات باب اعمار امتی بین الستین الی السبعین: ۳۵۵۰، وهوحسن، ابن ماجه: ۴۲۳۶.

امت دعمر باره کښې سوال اوکړې شو نوحضوراکرم ﷺ اوفرمائیل چه پنځوس شپیته کاله عمر ئې دې. ټپوس اوکړې شو داویاؤکالو والا؟ ونې فرمائیل ډیرکم.الله ﷻ دې په هغوی باندې اواتیاؤکالوپورې عمروالا باندې رحم اوکړی. (بزار)د دې حدیث یوراوی عثمان بن مطر قوی نه دې.

د رسول کریم ﷺ عمر مبارک څومره وو؟:-په صحیح حدیث کښې دی د رسول الله ﷺ عمر درې شپیته کاله وو (۱)یوقول دې چه شپیته کاله وو. داهم ونیلې شوی دی پنځه شپیته کاله وو. والله ا علم. (تطبیق دا دې چه شپیته کاله ویونکی راوی دهایانې لګوی اواکائیانې پریږدی.دپنځه شپیتوکالووالا د پیدائش اووفات کال هم شمیری. د درې شپیتو کالووالا دا دواړه کاله نه لګوی نوهیڅ اختلاف نشته. فالحمدلله. مترجم)

قوله تعالی:- وَجَآءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ

د نذیر څه مطلب دې؟:-اوس تاسو له به ویرونکی راشی یعنی دسپینو ویښتووالایاپخپله رسول الله ﷺ ډیرصحیح قول دویم دې.لکه چه ارشاد دې ﴿هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْأُولَىٰ﴾ (۲) داپیغمبرنذیردې. نوعمر ورکول رسول جوړول لیکل خپل حجت ئې پوره کړو.دقیامت په ورځ هم چه کله مرګ غواړی نوهم دا جواب به ورته ملاویږی تاسوله حق راغلی وو.یعنی درسول ﷺ په ژبه مبارکه مونږتاسوته دحق پیغام د ررسولې وو خوتاسو اونه منلو. یوبل آیت کښې دی ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا﴾ (۳)مونږ چه ترکومې رسول اونه لیګو عذاب نه کوو. په سورت تبارک کښې ارشاد دې کله چه دوزخیان په دوزخ کښې واچولې شی نو داروغه به د هغوی نه تپوس کوی ولې تاسو له ویرونکی نه وو راغلې؟ دوی به جواب ورکړی چه او راغلی وو خومونږ هغه اونه منل هغوی مو واړه ګنړلو او وئیلې موچه الله ﷻ خو څه کتاب هډو رالیګلې نه وو ته هسې د ځان نه وائې. نو نن به د قیامت په ورځ دوی ته وئیلې شی د نبیانود مخالفت مزه اوځکئی چه ټول عمر مو دروغ ګنړل اوس نن بدله اوچتوئی. واورئی هیڅ څوک به نه اودریږی چه ستاسو پکار راشی ستاسو څه امداد اوکړې شی هغوی مو د عذابونونه خلاص کړی اوبچ موکړی.

إِنَّ اللَّهَ	عَٰلِمُ	غَيْبِ السَّمَٰوَٰتِ	وَالْأَرْضِ ۚ	إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ	بِذَاتِ
بیشکه الله	عالم دې	په پټو څیزونو داسمانونو	او دزمکې	بیشکه هغه پوهیږی	په پټو رازونو
بیشکه الله ﷻ ته د اسمانونو او زمکې ټولې پټې خبرې معلوم دی				اوهغه ته د زړونو	
الصُّدُورِ ﴿٣٨﴾	هُوَ الَّذِى	جَعَلَكُمْ	خَلَٰٓئِفَ	فِى الْأَرْضِ ۚ	
دسینو باندې	هغه هغه ذات دې	چې جوړې کړې تاسو	خلیفګان	په زمکه کښې	
پټه رازونه معلوم دی	هغه داسې ذات دې چې تاسو ئې په زمکه باندې اباد کړئ				
فَمَن	كَفَرَ	فَعَلَيْهِ	كُفْرُهُۥ ۚ	وَلَا يَزِيدُ الْكَٰفِرِينَ	
پس هغه چا	چې کفر اوکړو	نو په هغه باندې ده	سزا دکفر دهغه	اونۀ زیاتوی کافرانو لره	
نوچا چې کفر غوره کړو	نو دهغه دکفر سزا به هم هغه ته ملاویږی	اود کافرانو کفر هغوی دپاره د الله په نیز			

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب وفاة النبی ﷺ:۴۴۶۶، صحیح مسلم:۲۳۴۹.
(۲) ۵۳/النجم:۵۶.
(۳) ۱۷/الاسراء:۱۵.

Scanned with Ca

كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۚ وَلَا يَزِيدُ الْكَٰفِرِينَ

کفر دهغوئ | په نز درب دهغوئ | مکر | غضب (دالله) | اونهٔ زیاتوی | کافرانو لره

د زیاتي غصي سبب ګرځی | اود کافرانو کفر هم د هغوی د تاوان سبب ګرځی

كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِينَ

کفر دهغوئ | مکر | خساره (زیا نکاری) | ورته اووایه | ایا وینئ تاسو | شریکان ستاسو | هغه

.....| ائي محبوبه) تپوس اوکړه چي ایا تاسو ته خپل هغه

تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ

چي تاسو رابلئ هغوئ | بي دالله نه | اوښایئ ماته | څه څیز پیدا کړي دي هغوئ | دزمکي نه

شریکان معلوم دی چي تاسو ئي د الله ﷻ نه سوا رابلئ راته اوښائي چي هغوئ په زمکه کښي

أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَٰوَٰتِ ۚ أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا

یا دي هغوئ لره | شراکت | په اسمانونو کښي | یا ورکړي دي مونږ دوئ له | څه لیکلي خط

څه پیدا کړی دی | یا په اسمانونو کښي د هغوئ څه شرکت شته | یا (مونږ هغوئ ته څه کتاب

فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ إِن يَعِدُ الظَّٰلِمُونَ بَعْضُهُم

چي دوي | په ښکاره دلیل دی | دهغي نه | بلکه | نهٔ کوی وعده | دا ظالمان | خپلې ددوئ

ورکړي دي | چي هغوئ دکتاب په دلیل تینګ ولاړ دی | (داسي یو خبره هم) نه بلکه دا ظالمان یوبل

بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾ إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ

دغینو سره | مکر ددوکي | بیشکه الله | ساتی په قرار | اسمانونه | او زمکه

سره د دروغو وعدي کوی | یقینا الله ﷻ اسمانونه او زمکه دواړه د راپریوتو نه راتینګ کړی دی

أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ

چي بي ځایه (نه) شی | او که بي ځایه شو دواړه | نو اوبه نهٔ ساتی دا دواړه په قرار | بل هیڅوک

.....او که دوئ دیوځائي نه بي ځایه شی انو دالله تعالی نه سوا بل هیڅوک ئي نشی راتینګولي

مِّنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾

روستو دالله نه | بیشکه هغه | دي | صبر ناک | بښونکي |

.....الله تعالی ډیر بردبار | و بښونکي دي |

قوله تعالی:- إِنَّ اللَّهَ عَٰلِمُ غَيْبِ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ

د الله ﷻ د کامل علم بیان: الله ﷻ دخپل وسیع او بي پایانه علم بیان فرمائی چه هغه خودزمکي اوآسمان دهرڅیز عالم دي.دزړونو رازونه اود سینوپه خبرو باندي خبردار دي.هرعمل کونکی ته به دهغه د عمل بدله ورکوی.هغه تاسو په زمکه کښي دیوبل خلیفه جوړکړی ئی.دکافرانودکفر وبال اونقصان هم پخپله په هغوی باندي دي.هغه چه په خپل کفرباندي وړاندي کیږی د الله ﷻ خفګان په هغوي باندي زیاتیږی

او دهغوی نقصان نور هم زیاتیږی. په خلاف دمؤمن چه څومره د هغه عمر زیاتیږی نیکئی هم زیاتیږی او درجې ورته حاصلیږی اود الله ﷻ په نیزباندې نور هم مقبول کیږی.

قوله تعالی:- اَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ

باطلومعبودانوهیڅ نه دی پیداکړی: الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته فرمائی چه ته مشرکانوته اووایه چه د الله ﷻ نه بغیرتاسو چاچاته آوازونه کوئی تاسو ماته هم لږشان اوښائی چه هغوی څه پیداکړی دی؟یادا ثابت کړئی چه په آسمانونوکښې دهغوی څومره حصه داری ده؟ځکه چه هغه نه خالق دی اونه حصه دار نوتاسو بیاما ولې پریږدئی اوهغوی ته آوازونه کوئی. هغوی خودیوې ذرې هم مالکان نه دی. ښه ده که دا هم نه وی نوکم نه کم د خپل کفراوشرك چرته یوکتابی دلیل پیش کړئی خوتاسو داهم نه شئی کولې. حقیقت دادې چه تاسو صرف خپل نفسانی خواهش اوخپلې رائی پسې لګیدلې ئی هیڅ دلیل نشته دروغو اودهوکه کښې اخته شوی ئی.یو بل ته دهوکه ورکوئی.دخپلو دروغژنومعبودانو کمزورئی مخې ته کیږدئی اوداالله ﷻ چه رښتونې معبود دې قدرت اوطاقت ته اوګورئی چه زمکه اوآسمان د هغه په حکم سره قائم دی.هریودخپل خپل ځائ شوې دې او ولاړدې.اخوادیخوا خوزیدې هم نه شی.آسمان په زمکه د راپریوتونه الله ﷻ منع کړې دې.دا دواړه د هغه په حکم باندې ولاړدی. د هغه نه بغیر هیڅ څوك نشته چه هغه رامنع کړی اووئی نیسی او په نظام باندې قایم اوساتی.حلیم اوغفورالله تعالی ته اوګوره چه دمخلوق اومملوك دنافرمانئی سرکشئی کفراوشرك کتلوسره هم د برداشت او ښښې نه کار اخلی.وخت اومهلت ئی ورکړې اوګناهونه معاف کوی.

قوله تعالی:- اِنَّ اللّٰهَ یُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

ددې متعلق یو منکرحدیث:- ابن ابی حاتم کښې ددې آیت د تفسیر لاندې یوغریب بلکه منکر حدیث دې چه د حضرت موسی ﷺ یوه واقعه حضوراکرم ﷺ یوځل په منبرباندې بیانولوسره اوفرمائیل چه د هغه په زړه کښې خیال تیرشو چه دا الله ﷻ کله اوده کیږی هم؟ نو الله ﷻ هغه له یوه فرښته راولیګله چه هغې دې دریو ورځوپورې اوده کیدو ته پرینخودو. بیائی دهغه په یویولاس کښې یویو بوتل ورکړو اوحکم ئی ورکړو چه د دې حفاظت کوه داپریونه ځی.مات نه شی. حضرت موسی ﷺ دا په لاسونو کښې اونیول او حفاظت ئی کولوخود خوب غلبه وه پرکالې پرې راغلولې شان جوړه شونوداسې اوشوچه هغه هوښیارشو اوبوتل ئی پریوتوله ورنه کړو. خوآخر خوب غالب شو او بوتلې د لاس نه پریوتلې په زمکه ذره ذره شوې. مطلب دا دې چه اوده کیدونکې خودوه بوتلې هم نه شی نیولې نو که الله ﷻ اوده کیدو نودزمکې اوآسمان داحفاظت به ئی څنګه کولو خوپه ظاهره داسې معلومیږی چه دا د حضوراکرم ﷺ فرمان نه دې بلکه د بنی اسرائیلو جوړکړې شوې دې.

دحضرت موسی ﷺ غوندې جلیل القدرپیغمبرهم داسې تصور کولې شی چه الله ﷻ اوده کیږی سره د دې چه الله ﷻ په خپلو صفاتوکښې فرمائیلی دی چه هغه ته نه پرکالې راځی اونه خوب. د زمکې او آسمان تولوځیزونومالك صرف هم هغه دې. بخاری اومسلم کښې حدیث دې الله ﷻ نه اوده کیږی اونه او ده کیدل دهغه د شان سره ښائی.هغه له ښکته پورته کوی.دورځی عمل د شپې نه وړاندې اود شپې عمل د ورځې نه وړاندې د هغه طرف ته خیژی. د هغه پرده نور دې یا اُوردې. که داکولاوکړی نودهغه د مخ تجلیات به ترکوم ځائ پورې چه نظر رسیدې شی تول مخلوق به اوسوزوی.(۱) ابن جریرکښې دی یو سړې حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ له راغلو هغوی دده نه تپوس اوکړو دکوم ځائ نه راغلې؟ هغه وئیل د شام نه. تپوس ئی اوکړو هلته چاسره ملاوشوې؟وئیل کعب سره. تپوس ئی اوکړو کعب څه خبره اوکړه؟ هغه وئیل چه دا آسمان د یوې فرښتې د اوږې پورې تاویږی. تپوس ئی اوکړوته دا رښتیااوګنړل

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الایمان باب فی قوله علیه السلام ﴿ان الله لاینام...﴾:۱۷۹، ابن ماجه:۱۹۵، احمد:۴/۳۹۵،ابن حبان:۲۶۶.

Scanned with Ca

که دروغ؟ جواب ئی ورکړو هیڅ مې هم نه دی کړی. وئی فرمائیل چه بیاخوتاهیڅ هم نه دی کړی. وئیل واوره کعب غلط وئیلی بیا هغوی هم د دې آیت تلاوت اوکړو .ددې اسناد صحیح دی په دویم سند کښې د راتلونکی نوم دې چه هغه حضرت جندب بجلی ﷺ وو حضرت امام مالك رحمه الله هم ددې تردید کولو چه آسمان په گردش کښې دې اود دې آیت نه به ئی دلیل اخستلو اود دې حدیث نه هم. په کوم کښې چه دی په مغرب کښې یوه دروازه ده کومه چه د توبې دروازه ده هغه به بندیږی نه ترکومې چه نمر د مغرب نه نه وی راختلی(۱)داحدیث دې.والله سبحانه وتعالی اعلم.

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ
اوقسمونه به خوړل دوئ په الله باندې
اودې کافرانو به په الله ﷻ
جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَاءَهُمْ نَذِيرٌ لَيَكُونُنَّ
په سختو قسمونو خپلو سره | که راغلې وې دوئ ته | یو خبردارونکې | نو خامخا به وې دوئ |
باندې ډیر سخت قسمونه خوړل | که چرته دوی ته څوک ویرونکې راغلو | نو مونږ
أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى الْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ
زیات په صحیح لار | دیو دپخوانو امتونو نه | پس هر کله چې | راغې دوئ ته | خبردارونکې |
به د بل هر | مت نه زیات په هدایت شو | .....خو څه وخت چې ورته ویرونکې راغلو
مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ۝ اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ
نو زیات ئې نه کړو دوئ لره | مګر په نفرت کښې | په سبب دتکبر کولو | په زمکه کښې |
نودې سره ددوئ نفرت نور هم زیات شو | ..... چې په دنیا کښې ئې خپل ځان غټ اوګڼلو او
وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ
او په سبب دتدبیر خراب | اونه چاپیریږی | تدبیر خراب | مګر | په اهل خپل |
خراب خراب سازشونه ئې جوړ کړل | اود خرابو سازشونو نقصان پخپله سازشګرو ته رسیږی
فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ
پس نه کوی انتظار دوئ | مګر | دطریقې دړومبنو خلقو | پس هر ګز به ته نه بیا نه مومی |
نوآیا دا خلق د مخکنو خلقو د انجام انتظار کوی؟ | نو ته به د الله تعالی په قانون کښې څه بدلی
لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ۝
طریقې دالله لره | څه تبدیلی | او بیا به نه مومې ته | طریقې دالله لره | اوړیدل دلاړې مقرري نه |
بیا نه مومی | اود الله ﷻ قانون به هیڅکله اوړیدونکې بیا نه مومې

قوله تعالی:- وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ

---

(۱) ترمذی کتاب الدعوات باب ماجاء فی فضل التوبة والاستغفار.....: ۳۵۳۵ وهوحسن، ابن ماجه: ٤٠٧٠، احمد: ٤/٢٤١، ابن حبان: ١٣٢١.

Scanned with Ca

د کافرانودهدایت قبلولوقسمونه خورل:-قریشواوعربود حضورﷺ د بعثت نه وړاندې ډیر قسمونه خوړلی ووکه دالله تعالی یورسول مونږ له راغلونومونږ به د ټولې دنیانه زیات دهغه تابعداری کوو.لکه چه بل ځای فرمان دي﴿اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآىِٕفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا ۪ وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ۝﴾[1]یعنی ددې دپاره چه تاسوداونه وئیلې شئی چه زمونږنه په وړاندې ډلوباندې کتابونه نازل شوولې مونږ خود هغې نه ناخبره پاتې یوکه په مونږباندې کتاب نازل شوې وونومونږ به دهغوی نه ډیرهدایت بیاموندونکې وو.واخلئی اوس خوپخپله ستاسودرب دطرفنه تاسوته دلیل راورسیدو.هدایت اورحمت ئی پخپله ستاسوپه لاسونو کښې درکړو.اوس اوښائې چه درب دآیاتونو تکذیب کونکو اودهغې نه مخ اړونکونه زیات ظالم څوک دي؟په نوروآیاتونوکښې دی چه دوی به وئیل که مونږ سره دوړاندینوخلقو عبرت ناک حالات اوواقعات وې نومونږ به د الله ﷻ مخلص بندیګان جوړشوې وو. خوبیا هم هغوی ددې راتلونه پس هم کفراوکړو. اوس به ډیرزر هغوی ته د دې انجام معلوم شی. هغوی له د الله ﷻ آخری پیغمبر اود هغه آخری او غوره کتاب راغلې دي.خودوی په کفرکښې نورهم زیات شو. هغوی د الله ﷻ دخبرې منلونه کبراوکړو. پخپله ئی اونه منل اودې سره ئی پخپل مکردالله ﷻنوربندیګان دهغه د لارې نه رامنع کړل. خوهغوی له یقین کول پکاردی چه د دې نقصان به پخپله هم په دوی باندې وی دوی د الله ﷻ نه بلکه خپل ورانې کوی.

قوله تعالی:-﴿وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ﴾

د دهوکه بازو نه ځان ساتئی ددوئ انجام خراب وی:-نبی کریم ﷺ فرمائی چه ددهوکه بازئی نه پرهیز کوئی دمکرپوچ هم په مکار باندې وی اودهغې جواب ورکول به دالله ﷻ په وړاندې وی.حضرت محمدبن کعب قرظی رحمه الله فرمائی د دریو کارونو کونکی خلاصې نه شی موندلې د دغه کارونووبال او نقصان به هم په دوی وی. مکر بغاوت اووعدې ماتول بیا هغوی هم دا آیت تلاوت کړو. هغوی ته صرف ددې انتظاردې چه دهغوی په شان د هغوی نه د وړاندې خلقو حال شو چه د الله ﷻ د رسولانو تکذیب اود رسولانود فرمان مخالفت په وجه د الله ﷻ دهمیشه والی عذاب په هغوی راغلونوداخود الله ﷻ عادت دي اوته غوراوکړه چه دالله ﷻ عادت بدلیږی او واپس کیږی نه. په کوم قوم چه د الله ﷻ د عذاب اراده اوشوه بیاد دې ارادې په بدلولوباندې څوک هم قدرت نه شی لرلې نه دهغوی نه عذاب اخوا کولې شی اونه هغوی د دې نه بچ کیدې شی اونه ئی څوک بچ کولې شی. والله اعلم.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ .	فَيَنْظُرُوْا	كَيْفَ كَانَ	عَاقِبَةُ	الَّذِيْنَ
آیا نۀ ګرځی دوئ	په زمکه کښې	چی اوګوری	څرنګې وو	انجام	دهغه کسانو
آیا دوئ د زمکې په مخ تګ راتګ نه کوی	چې دا اوګوری چې دپخوانو خلقو				
مِنْ قَبْلِهِمْ	وَكَانُوْٓا	اَشَدَّ	مِنْهُمْ	قُوَّةً ؕ	وَمَا كَانَ
چې مخکښې وو ددوئ نه	او وو هغوئ	زیات سخت	ددوئ نه	په قوت کښې	اونۀ دې
انجام څۀ شو	.....حال دا چې هغوئ ددې خلقو نه زیات زړاور وو			او داسې څوک نشته	
اللّٰهُ	لِيُعْجِزَهٗ	مِنْ شَيْءٍ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَلَا فِي الْاَرْضِ ؕ	اِنَّهٗ كَانَ
الله	اچې عاجزه کړی هغه لره	هیڅ څیز	په اسمانونو کښې	اونۀ په زمکه کښې	بیشکه هغه دې
چې هغې دې الله لره عاجزه کړې شی	نه په اسمانونو کښې او نه به زمکه کښې				هغه

[1] ٦/الانعام:١٥٦.

عَلِيْمًا	قَدِيْرًا ﴿٤٤﴾	وَلَوْ	يُؤَاخِذُ اللّٰهُ	النَّاسَ	بِمَا	كَسَبُوْا
په هر څه عالم	قادر	او که چرې	نیولې الله	خلق	په سبب دهغې	چې دوی ټې کوی
په هر څه پوهه او صاحب د قدرت دې	او که چرته الله ﷻ د (ګناهونو)					

مَا تَرَكَ	عَلٰى ظَهْرِهَا	مِنْ دَآبَّةٍ	وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ	
نۀ به ووه پرېښودې هغه	په شا دهغې	څه زنده سرې	ولیکن روستو کوی دوئ	
په سبب خلق نیول	..... نو د زمکې په مخ به هیڅ ساه لرونکې باقی پاتې شوې نۀ. وو			خو

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى	فَاِذَا	جَآءَ	اَجَلُهُمْ	فَاِنَّ اللّٰهَ	كَانَ
نیټې	مقرري ته	پس هر کله چې	راشی	نیټه ددوئ	پس بیشکه الله
الله تعالی ورته تریو نیټې پورې مهلت ورکوی	نو څه وخت چې تاکلې وخت راشی	نو الله تعالی			دی

بِعِبَادِهٖ	بَصِيْرًا ﴿٤٥﴾
په بندګانو خپلو باندې	لیدونکې
.دبندګانو عملونه وینی ګوری (بدله به ورکړی)	

قوله تعالی:- اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

د تیروشوو قومونود انجام نه عبرت واخلئ: حکم کولې شی چه دې منکرانوته اووایه چه په زمکه کښې دې اوګرځی اودې ګوری چه د دوی په شان د دوی نه د وړاندې خلقو څه انجام شوې. دهغوی نعمتونه واخستې شو دهغوی محلونه وران کړې شودهغوی طاقت ختم کړې شو.دهغوی مال تباه کړې شو د هغوی اولاد هلاک کړې شو.دالله تعالی عذابونه دهغوی نه په یوشان طریقه هم اخوانه شو راتلونکې مصیبت ئی اخوا نه کړې شو رابنکلې شو تباه اوبربادکړې شو. هیڅ ئی هم په کار رانغله اونه څه څیز فائده وراورسوله. الله ﷻ ته څوك ماتې نه شی ورکولې. هغه هیڅ یوکار عاجز کولې نه شی. دهغه هیڅ اراده دمراد نه جدا نه ده.دهغه یوحکم هم څوك اخواکولې نه شی هغه دټول کائنات عالم دې.هغه په ټولوکارونوقادردې.که هغه دخپلوبندیګانوپه ګناهونو باندې نیول کول نودټولو آسمانونو او زمکو والا به هلاک شوې وو.خناور اورزق ټول به برباد شوې وو.خناورو ته به دهغوی دسوړو اوجالو پورې عذابونه رسیدل. په زمکه باندې به هیڅ یوخناور بچ نه پاتې کیدو. خو اوس ئی وخت ورکړې دې عذابونه ئی روستوکړی دی.وخت راروان دې چه قیامت به قائم شی اوحساب کتاب به شروع شی. دتابعدارئی بدله او ثواب به ملاویږی د نافرمانئی عذاب او سزا به وی. داجل راتلونه پس به بیا وخت نه ملاویږی. الله ﷻ خپلو بندیګانوته ګوری اوهغه ډیر ښه کتونکې دی.

﴿فالحمدلله﴾ دالله تعالی په فضل اوکرم لطف اورحم سره د سورت فاطر تفسیر ختم شو.

ایاتونه		سورة يٰس مكية وهي ثلاث وثمانون اٰية وخمس ركوعات		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
﴿٥٣﴾		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		⑤

يٰسٓ ﴿١﴾	وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾	اِنَّكَ	لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣﴾
یاسین	قسم دې په قرآن حکیم باندې	بیشکه ته	خامخا درسولانو نه ئې
یاسین په قران پاك باندې قسم دې	چې د حکمتونو نه ډک دې	ته پیغمبرانو کښې یو (پیغمبر) یئ	

Scanned with Ca

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝	تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۝	لِتُنْذِرَ
په لاره نيغه باندې ئې	نازل شوې دي	دغالب او رحيم دطرفنه
(دهدايت) په نيغه لار ولاړ يئ	(داقران) دغالب اومهربان (الله تعالى) طرفنه نازل شوې دي	چې
قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ	اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ	غٰفِلُوْنَ ۝
يو داسې قوم	چې نه دي يرولې شوى	پلاران ددوئ
ته پرې هغه خلق (دعذاب نه) اوويروې	چې د هغوئ پلار نيکه چرې ويرولې شوى نه وو	انو خکه بې خبره پاتې
لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ	عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝
په تحقيق ثابته شوى ده	خبره د عذاب	په زياتو خلقو ددوئ باندې
دى	په دوئ کښې په زياتو خلقو (دتقدير) وينا ثابته شوې ده	نواوس دوئ ايمان نه راوړى

د سورت ياسين فضيلت:-ترمذى شريف کښې دى رسول الله ﷺ فرمائى دهريوځيز زړه وى اودقرآن کريم زړه سورت ياسين دې.سورت ياسين لوستونکى ته دلسوقرآن پاك د ختم ثواب ملاويږى(۱)داحديث غريب دې اوددې يوراوى مجهول دى. پدې باب کښې نور هم روايتونه دى خوسنداً هغه هم داسې څه ډيرښه نه دى. يوبل حديث کښې دى کوم سړې چه د شپې سورت ياسين اولولى هغه ښښلې شى اوځوك چه سورت دخان اولولى هغه هم ښښلې شى(۲) د دې اسنادډيرښکلى دى.دمسندپه حديث کښې دى سورت بقره د قرآن پاك قوب دې اوددې اوچتوالې دې. د دې يويوآيت سره اتياتياقربتې راکوزيږى. ددې يوآيت يعنى آيت الكرسى دعرش لاندې نه راوړل شوې دى اودې سره ملاوشوې دې.سورت ياسين د قرآن پاك زړه دې داچه کوم سړې په نيك نيټئى سره د الله ﷻ د رضاد پاره اولولى دهغه ګناهونه معاف کولې شى. داد هغه خلقو په وړاندې تلاوت کوئى چه د زنکدن په حالت کښې وى. (۳) د بعضو علماؤ کرامو قول دې د کوم کارپه وخت کښې چه سورت ياسين لوستلې کيږى الله ﷻ هغه آسانوى.دمړکيدونکى په وړاندې چه ددې تلاوت کولې شى نورحمت اوبرکت نازليږى اوروح ئى په آسانئى سره اوځى.والله ﷻ اعلم.مشائخو هم فرمائيلى دى چه په داسې وخت کښې سورت ياسين لوستلو سره الله ﷻ تخفيف آسانى کوى.بزارکښې د رسول الله ﷺ فرمان دې زما خوښه ده چه زما د امت هريوکس ته داسورت ياد وى(۴)حروف مقطعات کوم چه د سورتونوپه شروع کښې وى لکه دلته چه ټن د دې پوره بيان مونږ د سورت بقره د تفسيرپه شروع کښې کړې دې. دلته بياد سردوباره کولو ضرورت نشته.

قوله تعالى:- يٰسٓ ۝

ددې څه مطلب دې؟:-بعضې خلقو وئيلې دى چه ديسٓ نه مراد "اې انسان" دې بعضې وائى چه په حبشى ژبه کښې د"اې انسان" په معنى کښې دالفظ دې. څوك وائى چه دا دالله ﷻ نوم دې. بيافرمائى چه قسم دې د محکم اومضبوط قرآن پاك د کوم خواله چه هم باطل نه شى راتلې چه په يقين سره اې محمد ﷺ ته د الله ﷻ رښتونې رسول ئى. په رښتونى ښکلې مضبوط مزيدار نيغ اوصفا دين باندې ته ئى. دا

---

(۱) ترمذى كتاب فضائل القرآن باب ماجاء فى فضل يسين:۲۸۸۷ دارمى:۴۵۶/۲،
(۲) مسندابى يعلى:۶۲۲۴.
(۳) احمد:۲۶/۵.
(۴) البزاركشف الاستار:۲۳۰۵.

Scanned with Ca

صراط مستقیم د رب رحمن اورحیم دي. دادین هم د هغه نازل کړي شوېدي. کوم چه د عزتونووالا اوپه مؤمنانوباندي خاص مهربانی کونکي دي.

لکه چه ارشاددي ﴿وَإِنَّكَ لَتَهْدِيٓ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾[1] ته یقینًا دنیغي لاري خودنه کوي چه دهغه الله ﷻ نیغه لارده چه دزمکي اوآسمان مالك دي اودچاطرف ته چه د ټولوکارونوانجام دي دي د پاره چه نه عرب اوویروي د چامشران هم چه نه دی هوښیارکړي شوی اوهغه غافل دی. د هغوی ځان له ذکر په د ډوجه نه دي چه نورد دي تنبیه نه جدا دی. لکه څنګه چه د بعضي کسانو په ذکر سره د عامو نفی نه کیږی. دحضوراکرم ﷺ بعثت عام وود ټولي دنیاطرف ته. د دي دلائل په وضاحت سره اوپه تفصیل سره آیت ﴿قُلْ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ فَـَٔامِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمٰتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾[2] په تفسیرکښي بیان شوی دی.په اکثرو خلقو باندي دالله ﷻ د عذابونوقول ثابت شوي دي. د هغوی خوایمان نه نصیب کیږی اوهغوی به ستا تکذیب کوی.

إِنَّا جَعَلْنَا	فِيٓ أَعْنَاقِهِمْ	أَغْلٰلًا	فَهِيَ	إِلَى الْأَذْقَانِ	فَهُم
بیشکه اچولی دی مونږه اپه څټونو ددوئ کښی | پتئ اپس هغه اذنو پوري(رسیدلی دی) اپس دوئ					
مونږ ددوئ څټونو ته داسي داسي طوقونه اچولی دی| چې تر زنو پوري ئې راختلی دی| په دي					
مُّقْمَحُونَ ۝٨	وَجَعَلْنَا	مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ	سَدًّا	وَمِنْ خَلْفِهِمْ	
اوچت کړي شوی دی | او جوړ کړي دي مونږه | مخکښی ددوئ نه | دیوال | او روستو ددوئ نه |					
وجه ددوئ سرونه برې طرفته اوچت پاتې شوی دی|او مونږ یو دیوال ددوئ مخې طرفته اودرولي دي					
سَدًّا	فَأَغْشَيْنٰهُمْ	فَهُمْ	لَا يُبْصِرُونَ ۝٩	وَسَوَآءٌ	عَلَيْهِمْ
دیوال | پس پټ کړی دی مونږه دوئ | پس دوئ | هیڅ نه وینی | او یو شان ده | په حق ددوئ کښی					
او بل دیوال ددوئ شا طرف ته دي|ییا دبره نه موپټ کړی دی|نو(وړاندې روستو) هیڅ نه وینی | اوددوئ پحقله					
ءَأَنذَرْتَهُمْ	أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ	لَا يُؤْمِنُونَ ۝١٠	إِنَّمَا تُنذِرُ	مَنِ	
که یروي ته دوئ | او که نه یروي ته دوئ | دوئ ایمان نه راوړی | بیشکه ته یرولي شې | هغه څوك					
دواړه خبرې برابردی| که ته ئې ویروې او که نه ئې ویروې |خودوئ ایمان نه راوړی |(ائې نبی)ته خو بس					
ٱتَّبَعَ	ٱلذِّكْرَ	وَخَشِيَ	ٱلرَّحْمٰنَ	بِالْغَيْبِ ۚ	فَبَشِّرْهُ
چې پیروی کوی | دنصیحت | او یریږی | درحمان نه | بې لیدو | پس زیرې ورکړه هغه ته					
هغه څوك ویروې |چې نصیحت پسې روانیږی | او درحم کوونکی الله ﷻ نه بې لیدو کتو ویره کوی					
بِمَغْفِرَةٍ	وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ۝١١	إِنَّا نَحْنُ	نُحْيِ الْمَوْتٰى	وَنَكْتُبُ	
په ببنښې سره | او په اجر عزتمند سره | بیشکه مونږه | ژوندی کوؤ مړی | او لیکو مونږه |					
نوداسي سړو ته د ببنښې او ښه اجر زیرې ورکړه| مونږ ښه ټول مړی بیا راژوندی کوؤ|او هغه ټول عملونه					

[1] ٤٢/الشوری:٥٢.
[2] ٧/الاعراف:١٥٨.

Scanned with Ca

مَا قَدَّمُوْا	وَاٰثَارَهُمْ ؕ وَكُلَّ شَيْءٍ	اَحْصَيْنٰهُ
هغه چې مخکښې لیږلی دی دوئ	اوروستو عملونه ددوئ	او هر څیز
لیکو	کوم چې دوئ دځان نه وراندې لیږی	او کوم چې روستو شاته پاتې کیږی
فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۲﴾ ع		
په کتاب واضحه کښې		
ښکاره کتاب کښې محفوظ ساتلې دي		

قوله تعالیٰ:- اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ؕ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۲﴾

د کافرانود نه منلو تذکره اود هغوی انجام:- الله ﷻ فرمائی چه د دې بدنصیبو هدایت ته رسیدل ډیر ګران بلکه محال دی.دوی خود هغه خلقو په شان دی د کومولاسونه چه ستې پورې اوتړې اود هغوی سر پورته خیژی. د ستې ذکرکولوسره ئې د لاس ذکرپریخودو. خومراد تړې هم دا دې چه ستې یوځائ کولو سره لاسونه تړلې شوی دی اوسرونه ئې اوچت دی. کیږی داسې چه په ویناکښې د یوځیزذکرکولوسره دویم ځیز هم ذهنې نه په پوهه کښې راځی اودهغې ذکرپریخودې شی. دعربوشاعرانوپه شعرونوکښې هم دا خبره موجوده. "غل" وائی دواړه لاسونه دستې پورې رسولوسره ستې سره یوځائ تړلوته. په دې وجه ئې دستې ذکر اوکړو اود لاسونوذکر ئې پریخودو مطلب دا دې چه مونږ دهغوی لاسونه دهغوی ستونوسره تړلی دی.ځکه چه هغوی چرته دخیرکارته لاس نه شی وراندې کولې.دهغوی سرونه اوچت دی اود هغوی لاسونه دهغوی په مخ باندې دی. هغوی د هرې ښیګړې نه بې وسه دی. دستونو د دې طوق سره دهغوی وراندې دیوال دې یعنی دحق نه بندیزدې روستوهم دیوال دې یعنی د حق نه بندیزدې په دې وجه په تردد کښې پراته دی حق ته کتلې هم نه شی نه د حق طرف ته لار بیامومی اونه دحق نه فائده اوچتوی.دابن عباس ﷺ په قراءت کښې ﴿فَاَغْشَيْنٰهُمْ﴾ عین سره دې دایوقسم دسترګې بیماری ده چه انسان نابیناکوی(۱) نوداسلام ایمان اودهغوی په مینځ کښې د ځلورووارو طرفونه بندیز دې لکه چه بل آیت کښې دی په چاچه ستاد رب کلمه حق شوې ده هغوی خوایمان نه راوړی.که ته هغوی ته ټول آیاتونه هم اوښائی تردې چه دردناک عذابونه پخپله اووینی. څوک چه الله ﷻ منع کړی هغوی د کوم خائ نه دا منع کول اخواکولې شی.

قوله تعالیٰ:- سَدًّا

دې مبارک شان نزول:- یوځل ابوجهل ملعون اوونیل که ما محمد ﷺ اولیدو نوداسې به اوکړم اوهغه شان به اوکړم په دې باندې دآیاتونه نازل شو.خلقو به هغه ته وئیل چه دادې محمد ﷺ خوهغه ته ښکاریدونه اوتپوس به ئې کولو چه کوم خائ دې؟ کوم خائ دې؟(۲)یوځل هم دې ملعون په یوه ګټه کښې وئیلې وو چه ګورئی دې وائی که تاسو دهغه تابعداری اوکړه نوتاسو به بادشاه جوړشئی.اود مرګ نه پس به تاسوجنت ته لاړشئی اوکه تاسو ددې خلاف اوکړو نو هم دلته به د ذلت په مرګ مردار شئی اوهلته به په عذابونوکښې راګیرشئی. نن دې راشی. هم هغه وخت رسول الله ﷺ تشریف راوړو. د هغه په موتی کښې خاوره وه.

---

(۱) الطبری: ۴۹۶/۲۰.
(۲) الطبری: ۴۹۵/۲۰.

Scanned with Ca

حضورﷺ د سورت یس د شروع نه ﴿لَا يُبْصِرُونَ﴾ پورې لوستلو راروان وو الله ﷻ هغه ټول راننده کړل او حضورﷺ د هغوی په سرونوباندې خاوره واچوله اوتیرشو. ددې بدبختانو دلې په دلې د حضوراکرمﷺ دکورنه چاپیره ګیره اچولې وه.دهغې ډیرروستوپس یوصاحب د کورنه راووتلو.دهغوی نه نی تپوس اوکړوچه تاسو دلته څنګه ګیره اچولې ده؟ هغوی وئیل د محمدﷺ په انتظار یونن به نی ژوندې نه پریږدو. هغه وئیل واه واه هغه خو لاړه اوستاسو په سرونونی خاورې واچولې اووتلو. که یقین مو نه وی نوخپل سرونه اوځنډئ اوس چه کوم یوهم سر ځنډی نو خاوره تري راوځی. دحضوراکرمﷺ په وراندې چه کله د ابوجهل داخبره اوکړې شوه نوحضورﷺ اوفرمائیل چه هغه ټیک وئیلی په حقیقت کښې زماکامیابی د هغوی د دواړو جهانود عزت ذریعه ده اوزما نافرمانی دهغوی د پاره د ذلت ذریعه ده او هم داسې به وی. په دې باندې د الله ﷻ مهرلګیدلې دې. دوی د نیکې خبرې اثرنه اخلی. په سورت بقره کښې هم ددې مضمون یوداسې آیت تیرشوې دې.یوبل آیت کښې دی﴿إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾(۱)یعنی په چاچه د عذاب کلمه ثابته شوه هغوی ته ایمان نه نصیب کیږی سره د دې که ته هغوی ته ټولې ننبۍ ښکاره کړې تردې چه په خپلو سترګو د الله ﷻ عذاب اووینی.

قوله تعالی:-إِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ

د نبی کریمﷺ بیان په مؤمن اثر کوی په کافر نه کوی:-اوستانصیحت په هغوی باندې اثرکولې شی ځوک چه نیکې خبرې تابعداری کونکی دی د قرآن پاک منونکی دی. بغیرد کتلوداللهﷻ نه ویریږی اوپه داسې ځائ کښې هم د الله ﷻ ویره لری کوم ځائ چه بل ځوک کتونکې نه وی. هغوی ته معلومه ده چه الله ﷻ زمونږ په حال باندې خبردی اوزمونږ کارونوته ګوری.داسې خلقوته خودګناهونود معافئ عظیم اوجمیل اجر ورکولو زیرې وراورسوه. لکه چه بل آیت کښې دی کوم خلق چه په پټ خائ کښې هم د الله ﷻ ویره لری د هغوی د پاره مغفرت اولوئ ثواب دې. هم مونږ یو چه مړی به سوزوو. مونږ د قیامت په ورځ هغوی له نوې ژوندورکولوباندې قادر یو. اوپه دې کښې دی چه مړه زړونه ژوندی کولوباندې هم الله ﷻ قادر دې. هغه ګمراه شوی هم په نیغه لار اچوی لکه بل مقام کښې د مړو زړونوذکرکولوسره قرآن حکیم فرمائی﴿اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾(۲) پوهه شئ چه الله ﷻ زمکه دهغې دمړکیدونه پس راژوندئ کوی.مونږ ستاسودپوهې دپاره ډیر څه بیان کړل اومونږ د هغوی وراندې لیګلې شوی اعمال لیکو اود هغې آثارهم. یعنی کوم ئی چه د ځان نه پس پریخې راغلی.که خیرئ باقی پریخې وی نونیکه بدله ګنی سزا به خوری. دحضوراکرمﷺ فرمان دې کوم سړې چه په اسلام کښې نیکه طریقه روانه کړی اوهغه ځوک هم کوی نو ټولوته به بدله ملاویږی اودهغوی بدله به هم نه کمیږی.اوکوم سړې چه یوه بده طریقه روانه کړی نود هغې بوج به هم په هغه وی اودهغوی بوج هم ځوک چه د هغې نه پس په دې عمل کونکی وی خودهغه بوج به نه شی کمولې.(۳)

په یواوږدحدیث کښې دې د قبیله مضر د ځادر اچونکوخلقو واقعه هم ده. اوپه آخره کښې ﴿وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا﴾ لوستلوذکر هم دې.د صحیح مسلم شریف په یوبل حدیث کښې دی کله چه انسان مړشی نو د هغه ټول عملونه کټ شی خودرې عملونه علم د کوم نه چه نفع حاصله کړې شی نیک اولادچه دهغه د پاره دعااوکړی اوهغه صدقه جاریه چه دهغه نه پس هم باقی وی(۴)دمجاهد رحمه الله نه ددې آیت په تفسیر کښې روایت دې ګمراه خلق چه کومه ګمراهی پریږدی. د سعیدبن جبیر رحمه الله نه روایت دې هره هغه

---

(۱) ۱۰/یونس:۹۶-۹۷.
(۲) ۵۷/الحدید:۱۷.
(۳) صحیح مسلم کتاب الزکاة باب الحث علی الصدقة ولوبشق تمرة....:۱۰۱۷. (مسلم)
(۴) صحیح مسلم کتاب الوصیة باب ما یلحق الانسان من الثواب بعدوفاته:۱۶۳۱.

Scanned with Ca

نیکی اوبدی کومه چه هغه جاری کړي وی اودخپل خان نه پس نی پریږدی. بغوی ﷺ هم داقول خوښوی.ددې جملې په تفسیرکښې دویم قول دادې چه د آثار نه مراد د قدم نښې دی کوم چه د اطاعت یا معصیت یعنی گناه طرف ته اوچت شی. (۱)

حضرت قتاده ﷺ فرمائی اې بنیادمه که چرې الله ﷻ ستاد یوعمل نه غافل شوې وو نوستاد قدم دنښونه به غافل شوې ووکوم چه هوا ورانوی. خوالله تعالی تبارك وتعالی د دې نه اوستاد یوعمل نه غافل نه دې. ستا ځومره قدمونه چه دهغه په اطاعت کښې اوچتیږی ټول هغه سره لیکلې شوی دی. په تاسوکښې چه دچا نه کیدې شی هغه دې د الله ﷻ دفرمانبردارنی طرف ته قدم اوچتوی. هم د دې معنې نورهم ډیر احادیث دی. اولنې حدیث په مسنداحمدکښې دې حضرت جابربن عبدالله ﷺ فرمائی مسجدنبوی ﷺ سره خواوشا څه کورونه خالی شونودقبیله بنوسلمه خلقو اراده اوکړه چه هغوی د خپلې محلې نه راپاسی اودلته نیزدې کورونوکښې جمات سره آبادشی.کله چه د دې خبر رسول الله ﷺ ته اوشو نووئی فرمائیل ماته داخبره معلومه شوې ده دا ټیک ده؟هغوی جواب ورکړو او.حضوراکرم ﷺ دوه خل اوفرمائیل اې بنو سلمه په خپلو کورونوکښې اوسیږئی ستاسو قدمونه الله ﷻ سره لیکلې کیږی. (۲)

دویم حدیث:- د ابن ابی حاتم په روایت کښې دی. هم د دې باره کښې داآیت نازل شوې اوهم دې قبیلې خپله اراده بدله کړه. د بزار هم په دې روایت کښې دی بنوسلمه د خپلو کورونود جمات نه د لریوالی شکایت حضوراکرم ﷺ ته اوکړو. په دې باندې دا آیت نازل شو اوبیاهغوی هم هلته اوسیدل(۳)خوپه دې کښې غرابت دې څکه چه په دې کښې د دې آیت په دې باره کښې نازل بیان شوی دی اوداپوره سورت مکی دې. والله اعلم.

دریم حدیث:- ابن جریرکښې د ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه د کومو بعضې انصارو د کورنه مسجد نبوی لرې وو هغوی جمات سره نیزدې کورونوته راتلل غوښتل. په دې باندې دا آیت نازل شو نوهغوی وئیل چه اوس به مونږ داکورونه نه پریږدو. (۴) داحدیث موقوف دې.

څلورم حدیث:- مسنداحمدکښې دی چه یومدنی صحابی ﷺ په مدینه طیبه کښې وفات اوشو نو حضور ﷺ دهغه د جنازې مونځ اوکړو وئی فرمائیل کاش چه دې د خپل وطن نه چرته بل ځای وفات شوې وې.چاوئیل دا ولې؟ ونی فرمائیل چه کله یومسلمان په غیروطن کښې وفات شی نودهغه د وطن نه واخله د هغه ځای پورې زمکه ناپ کوی اودومره ځای ورته جنت کښې ملاویږی. (۵)

ابن جریرکښې دحضرت ثابت ﷺ نه روایت دې زه حضرت انس ﷺ سره دمانځه دپاره جمات ته لاړم. زه زرزرپه غټو غټوقدمونوباندې روان ووم نوهغوی زمالاس اونیولواوخان سره نی په مزه مزه په وړو وړو قدمونوسره بوتلم کله چه مونږ د مانځه نه فارغ شونوهغوی اوفرمائیل زه حضرت زیدبن ثابت ﷺ سره جمات ته روان ووم اوپه تیزو قدمونو روان ووم نوهغه ماته اوفرمائیل اې انس آیاتاته معلومه نه ده چه دا د قدمونونښې لیکلې کیږی. (۶)د دې قول نه د رومبی قول نور هم تائیدکیږی څکه چه کله د قدم نښې لیکلې کیږی نوخوره کړې شوې نیکی اوبدی به ولې نه لیکلې کیږی. والله اعلم.

قوله تعالی:- فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ۝

---

۱) الطبری: ۴۹۷/۲۰.
۲) صحیح مسلم کتاب المساجد باب فضل کثرة الخطاالی المساجد:۶۶۵، احمد:۳۳۲/۳،ابن حبان:۲۰۴۲.
۳) ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة یسٓ:۳۲۲۶ حاکم:۴۲۸/۲.
۴) ابن جریر الطبری.
۵) نسائی کتاب الجنائزباب الموت بغیرمولده:۱۸۳۳وسنده حسن، ابن ماجه:۱۶۱۴، احمد:۱۷۷/۲.
۶) الطبری: ۴۹۸/۲۰.

Scanned with Ca

د امام مبين مطلب:- ټول کائنات اوټول موجودات په مضبوط کتاب لوح محفوظ کښې لیکلي دی چه ام الکتاب دی(۱)هم دا تفسیرد بزرګانونه ایت ﴿يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍۭ بِإِمَامِهِمْ ۚ فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِۦ فَأُولَٰئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا﴾(۲)په تفسیر کښې هم نقل دی.چه دهغوی عمل نامه کوم کښې چه خیراوشر لیکلي دی لکه د قرآن پاك آیت ﴿ وَوُضِعَ الْكِتَٰبُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا الْكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحْصَىٰهَا ۚ وَوَجَدُوا۟ مَا عَمِلُوا۟ حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾(۳) او آیت ﴿ وَوُضِعَ الْكِتَٰبُ وَجِا۟ىٓءَ بِالنَّبِيِّۧنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾ (۴) کښې دی.

وَاضْرِبْ	لَهُمْ	مَّثَلًا	أَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ	إِذْ	
او بیان کړه		دوئ ته	یو مثال	دخلقو دکلی	کله چی
					(ائې پیغمبره) دوئ ته دیو کلی د خلقو قصه واوروه،
جَآءَهَا	الْمُرْسَلُونَ ﴿١٣﴾	إِذْ	أَرْسَلْنَآ	إِلَيْهِمُ	اثْنَيْنِ
راغلل هغه کلی ته	رسولان	کله چی	اولیږل مونږه	هغوئ ته	دوه رسولان
کله چې هغه کلی ته پیغمبران ورغلل		کله چې مونږ هغوئ ته دوه کسان اولیږل			
فَكَذَّبُوهُمَا	فَعَزَّزْنَا	بِثَالِثٍ	فَقَالُوٓا	إِنَّآ	
پس هغوئ دروغ اوګنړل دواړه	پس قوی کړل مونږه	په دریم سره	نو اووئیل هغوئ	بیشکه مونږه	
نو هغوئ هغه دواړه دروغژن اوګنړل	نو مونږ دیو دریم کس په ذریعه دغه دواړه مضبوط کړل			نو دی	
إِلَيْكُم	مُّرْسَلُونَ ﴿١٤﴾	قَالُوا۟	مَآ أَنتُمْ	إِلَّا	بَشَرٌ
تاسو ته	رالیږلی شوی رسولان یو	اووئیل هغوئ	چی نۀ یئ تاسو	مګر	انسانان یئ
پیغمبرانو اووئیل	اچې بیشکه مونږ ستاسو طرفته رالیږلی شوی یو		هغه خلقو جواب ورکړو		
مِّثْلُنَا ۙ	وَمَآ أَنزَلَ	الرَّحْمٰنُ	مِن شَىْءٍ ۙ	إِنْ أَنتُمْ	إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴿١٥﴾
پشان زمونږه	اونۀ دی نازل کړی	رحمان	هیڅ څیز	نۀ یئ تاسو	مګر دروغ وایئ
چې تاسو خو زمونږ په شان انسانان یئ	او الله ﷻ هیڅ نه دی نازل کړی		دا خو تاسو دروغ وائې		
قَالُوا۟	رَبُّنَا	يَعْلَمُ	إِنَّآ	إِلَيْكُمْ	لَمُرْسَلُونَ ﴿١٦﴾
اووئیل رسولانو	رب زمونږه	پوهیږی	چی مونږه	تاسو ته	خامخا رالیږلی شوی رسولان یو
هغه نبیانو اووئیل	چې زمونږ رب ته معلومه ده		چې مونږ خاص هم تاسو ته رالیږلی شوی یو		
وَمَا عَلَيْنَآ	إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِينُ ﴿١٧﴾				
او نشته په مونږ باندې	مګر رسونه ښکاره				
او زمونږ نوره ذمه واری نشته	خو (تاسو ته) ښکاره حکم رسول دی				

---

(۱) الطبری: ۲۰/۴۹۹.
(۲) ۱۷/بنی اسرائیل: ۷۱.
(۳) ۱۸/الکهف: ۴۹.
(۴) ۳۹/الزمر: ۶۹.

Scanned with Ca

قوله تعالی:- وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا أَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ

د یوکلی والواقعه:- الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته حکم فرمائی چه تاسو خپل قوم ته د وړاندینوخلقو قصه بیان کړئی چا چه د دوی نه مخکې خپل رسولان دغه شان دروغ ګنړلې وو. دا واقعه د انطاکیه ښارده د هغه خاىٔ د بادشاه نوم انطیخس وو. د هغه د پلار اونیکه هم دا نوم وو دا ټول بت پرست وو. هغوی له د الله ﷻ دې پیغمبران راغلې ووصادق مصدوق اوشلوم دالله تعالی درود اوسلام دې په هغوی وی. خودې بدنصیبو ټول دروغ اوګنړل(۱) ډیر زر دا بیان هم راروان دې چه ډیرو مشرانو دا اونه منل چه دا واقعه د انطاکیه وی.اول دوی له دوه پیغمبران راغله دوی اونه منل. ددې دوو په تائیدکښې بیادریم پیغمبر راغلو د اولنو دوورسولانونومونه شمعون اویوحنا وو اود دریم رسول نوم بولص وو. دې ټولو اووئیل چه مونږ دالله ﷻ لیګلې شوی یوچاچه تاسو پیداکړی نی.هغه زما په ذریعه باندې تاسو ته حکم اوکړو چه تاسو دهغه نه بغیرد بل چا عبادت مه کوئی.دحضرت قتاده بن دعامه رحمه الله خیال دې چه دا دریواړه بزرګان دحضرت مسیح ﷺ رالیګلې شوی وو.

قوله تعالی:- قَالُوْا مَآ أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا

د قوم د منلو نه انکار او اعتراض او د هغوئ جواب:- د کلی دې خلقو جواب ورکړوچه تاسو خو زمونږ په شان انسانان نی بیاتاسو ته ولې د الله ﷻ وحی راغله اوزمونږ طرف ته رانغله. اوکه تاسو رسولان وئی نوپکار وه چه تاسو فرښتې وئی. اکثرو کافرانو هم دا شبه د خپلې خپلې زمانې د پیغمبرانو په وړاندې پیش کړې وه. لکه چه د الله سبحانه وتعالی ارشاد دې ﴿ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَتْ تَّأْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا فَأَخَذَهُمُ اللّٰهُ ۭ إِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾(۲) یعنی خلقوله رسولان راغله او هغوی جواب نی ورکړوچه انسانان زمونږ د هدایت دپاره راغله.یو بل آیت کښې دی ﴿قَالُوْٓا إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ تُرِيْدُوْنَ أَنْ تَصُدُّوْنَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا فَأْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ﴾ (۳) یعنی تاسو خوزمونږ په شان انسانان نی. ستاسوخوښه صرف دا ده چه مونږ د خپلوپلارانو نیکونود دمعبودانونه منع کړئی چرته ښکاره غلبه راوړئی.

بل خاىٔ ارشاد دې ﴿وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخٰسِرُوْنَ﴾(۴) یعنی کافرانواووئیل که تا د خپل ځان په شان د انسانانوتابعداری اوکړه نوتاسویقیناً په ډیرلوئ نقصان کښې پریوتلئ.د دې نه هم په ډیر وضاحت سره آیت ﴿وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُّؤْمِنُوْٓا إِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى وَيَسْتَغْفِرُوْا رَبَّهُمْ إِلَّآ أَنْ تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِيْنَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا﴾ (۵) کښې د دې بیان دې. هم دا دې خلقو دې دریواړو نبیانوته اووئیل چه تاسو خو زمونږ په شان انسانان نی اوپه حقیقت کښې الله ﷻ هیڅ هم نه دی نازل کړی تاسو هسې غلط خبرې کوئی. پیغمبرانوجواب ورکړوالله تعالی ته ښه معلومه ده چه مونږ دهغه رښتونې رسولان یو که مونږ دروغژن وو نوپه الله ﷻ باندې د دروغو ترلو سزا به مونږ ته الله ﷻ راکوله. خوتاسو به ګورئی چه هغه به زمونږ امداد اوکړی مونږ ته به عزت راکړی هغه وخت به تاسو ته پخپله ښکاره شی چه څوک د اعتباراوانجام په توګه ښه پاتې شو. لکه چه بل خاىٔ ارشاددې ﴿قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۭ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ﴾(۶) زمونږ او ستاسو په مینځ کښې د الله ﷻ ګواهی کافی ده هغه خود آسمان اوزمکې غیب پیژنی. په باطل باندې ایمان ساتل اود الله ﷻ نه کفر کونکی په نقصان کښې

---

۱) الطبری: ۲۰/۵۰۰.
۲) ۴۰/المؤمن: ۲۲.
۳) ۱۴/ابراهیم: ۱۰.
۴) ۴۰/المؤمنون: ۳۴.
۵) ۱۷/بنی اسرائیل: ۹۴.
۶) ۲۹/العنکبوت: ۵۲.

Scanned with Ca

دی. واورئی زمونږ په ذمه صرف تبلیغ کول دی که اومومنل نو هم ستاسو خپله فائده ده اوکه نه منئی نوپخپله به پښیمانه شئی. زمونږ هیڅ هم نه شئی کولې. صبابه د خپلوکړو مزه څکئی.

قَالُوْٓا	اِنَّا تَطَيَّرْنَا
اووئیل دکلی خلقو	بیشکه مونږه بدفالی نیسو
	هغه خلقو اووئیل چې مونږ خو
بِكُمْ ۚ	لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ
په تاسو	که چرې منع نه شوئ تاسو انو خامخا به مونږ سنګسار کړوتاسو اوخامخا به اورسی تاسو ته
تاسو سپیره ګنړو	که تاسو (ددې تبلیغ نه) منع نه شوئ انو مونږ به مو سنګسار کړو اوزمونږ د طرفنه به
مِّنَّا	عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ قَالُوْا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ط
زمونږ نه	عذاب دردناك اووئیل رسولانو بدفالی ستاسو خو ستاسو سره ده
درته ډیر دردناک عذاب دراورسی	پیغمبرانو اووئیل چې ستاسوسپیره توب پخپله تاسو پورې انښتې دي
اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ط	بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ۝
ایا که نصیحت اوشی تاسو ته (نو دا بدفالی ده)	بلکه تاسو قوم یئ دحدنه اوړیدونکی
ایا که تاسو ته نصیحت	وکړې شی (نو دانحوست دي؟) نه بلکه تاسود حد نه تیر شوی خلق یئ
وَجَآءَ	مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى قَالَ يٰقَوْمِ
او راغې	دلرې طرفه دهغه ښار نه یو سړې چې منډې ئې راوهلې اووئیل هغه اے قومه زما
اوددغه ښار د بلې غاړې نه یو سړې په منډه منډه راغلو	او ورته ئې اووئیل چې ائې زما قومه!
اتَّبِعُوا	الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْـَٔلُكُمْ اَجْرًا
پیروی اوکړی	درسولانو پیروئ اوکړئ دهغه چا چې نه غواړی ستاسو نه څه بدله
تاسو ددې پیغمبرانو تابعداری اوکړئ	دهغه چا په لار چې تاسو نه هیڅ بدله نه غواړی
وَّهُمْ	مُّهْتَدُوْنَ ۝
او هغوئ	په نیغه لار دی
	او په سمه لار قائم ولاړ دی

قوله تعالی:- قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ

کافرانوبه د رسولانومتعلق بدګماني کوله:- دې کافرانو رسولانوته اووئیل ستاسو په راتلو سره مونږ ته هیڅ خیراوبرکت ملاونه شو بلکه نوربداوبدی راورسیده.تاسو نی سپیرۂ خلق. چرته چه څنی مصیبتونه به راځی.واورئی که تاسو د خپلې دې طریقې نه منع نه شوئی اوهم دا وینامو کوله نومونږ به تاسو سنګسارکړواوسختې دردناکې سزاګانې به درکړو.رسولانو جواب ورکړو چه تاسو پخپله شیطانان نی او ستاسو عملونه خراب دی اوهم په دې وجه په تاسو باندې مصیبتونه راځی چه څنګه کوئی هم هغه شان به درته ملاویږی.

داسې بدفالی فرعونیانو هم کړې وه:. هم دا خبره فرعونیانوموسی ؑ اودهغه قوم مؤمنانوته وئیلې وه. کله چه به ورته څه راحت ملاویدو نو وئیل به نی مونږ خوددې مستحق یواوکه چرې څه خفګان ورته

Scanned with Ca

رسیدونودموسی ﷺ اود هغه د قوم په بدګمانئی سره به ئی دا محمول کول.دکوم چه په جواب کښې الله ﷻ اوفرمائیل ﴿اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾(۱) یعنی دهغوی دمصیبتونو وجه هم دهغوی بدعملونه دی د کومې وبال چه زمونږ د طرف نه هغوی ته رسی.

د صالح ﷺ قوم هم داسې فد فالی کړې وه:- د صالح ﷺ قوم هم خپل نبی ته وئیلې وو اوهم دا جواب ئی ورکړې وو. پخپله نبی اخر الزمان حضرت محمد ﷺ ته هم داسې وئیلې شوی وو لکه چه دالله تعالی ارشاد دی. ﴿ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ۭ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۭ فَمَالِ هٰٓؤُلَاۗءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا﴾ (۲) یعنی که دې کافرانوته څه نقصان کیږی نووائی چه دا ستاد طرف نه دی ته ورته اووایه دا ټول هرڅه د الله ﷻ د طرف نه دی. په دوی څه شوی دی چه دوی په دې خبره باندې هم ځان نه پوهه کوی بیافرمائی چه صرف په دې وجه چه مونږ تاسو ته نصیحت اوکړو ستاسو خیرخواهی مو اوکړه تاسوته مو نیغه لار اوخودله.ستاسودالله ﷻ دتوحیدطرف ته لارخودنه اوکړې شوه.تاسو ته ئی داخلاص اوعبادت طریقې اوخودلې اوتاسومونږسپیره ګنړئی اومونږداسې ویرونی اومقابلې له راغلې.حقیقت دادې چه تاسو اسراف کونکی خلق ئی دالله ﷻ دحدودونافرمائی کوئی اود حدنه تیریږئی مونږ ته ګورئی مونږ ستاسو نښیګړه غواړو.تاسو هم خپل ځان ته اوګورئی چه تاسوزمونږ نه بدی ګنړئی.وائې اوښائی داڅه د انصاف خبره ده. افسوس تاسو د انصاف د دائرې نه اووتلئی

قوله تعالی:- وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى

دحضرت حبیب ذکر:- روایت دې چه د دې کلی خلق دومره سرکش شو چه هغوی پټ د انبیاؤکرامو د قتل کولو اراده اوکړه. آخریومسلمان سړې چه د دې کلی په آخری حصه کښې اوسیدلو د چا نوم چه حبیب وو اودرسئی کار به ئی کولو وو هم بیمار اود جذام بیماری ئی وه. ډیر سخی سړې څه چه به ئی ګټل د هغې نیمه حصه به ئی د الله ﷻ په لارکښې خیرات کول د زړه نه ډیر نرم وو اوفطرت ئی ډیر ښه وو.(۳) دخلقو نه ځان له په یوغارکښې کیناستل اود الله ﷻ عبادت ئی کولو. هغه چه د قوم دابده اراده په څه طریقه معلومه کړه نوصبر نه شو اورامنډې کړې راغلو. بعضې وائی چه بټیارې وو اویوقول دې چه دا دهوبی وو. عمر بن حکم رحمه الله فرمائی چه دې موچی وو. الله ﷻ دې په هغه باندې رحم اوکړی هغه خپل قوم پوهه کول شروع کړه چه تاسو د دې رسولانوتابعداری کوئی د دوی وینا اومنئی دهغوی په لار روان شئی ګورئی چه دوی خپله هیڅ فائده نه کوی دوی تاسونه د خپل رسالت د تبلیغ هیڅ بدله نه غواړی. د خپلې خیرخواهئی هیڅ مزدوری تاسو نه نه غواړی. د زړه د درد د وجه نه تاسو له د الله ﷻ د توحید دعوت درکوی. اود نیغې او رښتونې لارې خودنه درته کوی اوپخپله هم په دې لار روان دی. تاسو له خامخا د دوی په دعوت باندې لبیک وئیل پکار دی اود هغوی اطاعت کول پکاردی. خوقوم دهغه یوه هم وانوریده بلکه هغه ئی شهید کړو. رضی الله تعالی عنه وارضاه.

﴿الحمدلله﴾ د تفسیرابن کثیر دووه ویشتم سیپاره ختمه شوه.

---

(۱) ۷/الاعراف: ۱۳۱.
(۲) ٤/النساء: ۷۸.
(۳) الطبری: ۲۰/٤، ۵۰.

Scanned with Ca

وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ
او څه شوی دی مالره | چې زهٔ بندګی اونهٔ کړم | دهغه الله | چې پیدا ئې کړم زهٔ | او خاص هغه ته |
او زه به ولې دهغه (رب) عبادت نه کوم| چې زه ئې پیدا کړې یم| اوتاسو ټول به هغه ته
تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِ آلِهَةً إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ
په تاسو واپس کیږئ | آیا زهٔ اونیسم | بې دالله نه | نور خدایان | که اراده اوکړی | رحمان | دضرر
واپس کیږئ| آیا زه د الله ﷻ نه سوا د نورو مبعودانو عبادت اوکړم | که رحمان (الله ﷻ) راته
لَّا تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّي
نو دفعه به نهٔ کړی | زمانه | سفارش دهغوئ | هیڅ ځیز | اونهٔ به خلاص کړی مالره | بیشکه زهٔ به
څه ضرر راسول غواړی | نو د هغوئ سفارش راته هیڅ فائده نشی رسولې |اونه مې تړې خلاصولې شی
إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّي آمَنتُ بِرَبِّكُمْ
بیا په دغه وخت کښې | خامخا په ګمراهئ ښکاره کښې یم | بیشکه ما ایمان راوړو | په رب ستاسو
که زهٔ داسې اوکړم | نو په هغه وخت به په ښکاره ګمراهئ کښې شم| بیشکه ما ستاسو په رب ایمان راوړې دې
فَاسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾
پس واورئ زمانه |
نوزما خبره واورئ |

قوله تعالی:: وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي

د حبیب د قوم په وراندې د توحید بیان :- هغه نیك بخته سړی چه کله د الله تعالی د رسولانو تکذیب تردید اوسپکاوې اوکتلو نوپه منډه راغلو اوچاچه خپل قوم ته د نبیانو د تابعدارئی رغبت ورکړې وو هغه اوس خپل عمل اوعقیده دهغوی په وړاندې پیش کوی اوهغوی دحقیقت نه خبروی اودایمان دعوت ورکوی نووائی چه زه خوصرف دخپل خالق اومالك الله تعالی چه وحده لاشریك له دې عبادت کوم. خکه چه صرف هم هغه زه پیدا کړې یم نوزه به د هغه عبادت ولې نه کوم؟ بیاخوداسې نه ده چه مونږ د هغه د قدرت نه اوخو اویااوس هغه سره زمونږ څه تعلق پاتې نه شو؟ نه بلکه ټول په ټول په بیا د هغه مخې ته راجمع کیدونکی یو. هغه وخت به هغه د هرې نیکئی اوبدئ بدله ورکوی. دا څومره د شرم خبره ده چه زه هغه خالق او قادرپریږ دم او د نورو عبادت اوکړم چه نه خوداسې څه طاقت لری چه د الله تعالی د طرف نه څه مصیبت راشی اوهغه رانه اخوا کړی نه دا د هغه د وینا اوریدو په وجه ماته څه بدی رارسولې شی. که الله تعالی ماته څه تکلیف رارسول غواړی نوهغه لرې کولې نه شی منع کولې نه شی نه ماد هغې نه بچ کولې شی. که زه د داسې کمزورو عبادت کول شروع کړم نوزما نه بل ګمراه او دهوکه خورلې بل څوك کیدې شی؟ بیا خو به نه یوازې په ما بلکه د دنیاپه هریونیك انسان به زماګمراهی ښکاره شی. زماد قوم خلقو د کوم حقیقی معبود اوپروردګارنه چه تاسو منکرشوی ئې واورئ زه د هغه په ذات باندې ایمان لرم.

اوددې آیت دامعنی هم کیدې شی چه هغه د الله تعالی والا نیك سړی د خپل قوم نه مخ وارولود الله تعالی هغه رسولانوته ئی اووئیل چه د الله تعالی پیغمبرانو تاسو زما د ایمان ګواه اوسیږئ ما د الله تعالی په ذات باندې ایمان راوړو چاچه تاسو په حقه سره رسولان جوړکړی رالیګلی ئې. نولکه دې په

Scanned with Ca

خپل ایمان راوړلو باندې د الله تعالی رسولان ګواه جوړول غواړی. داقول په نسبت د وړاندینی قول نه نور هم زیات واضحه دي. والله اعلم.

حضرت ابن عباس ﷺ وغیره فرمائی چه دي بزرګ هم دومره وینا کړې وه چه ټول کافران پرې راغونډ شو او وئی وهلو. څوک وو چه دا ئی بچ کولو؟ بیائی په کانړو ویشتلوسره هم هغه شهید کړو.(۱) رضی الله تعالی عنه وارضاه. دې د الله تعالی ربښتونی بنده اود الله تعالی ولی الله کانړی خوړل ولې په ژبه باندې هم داوئیل اې الله زما قوم ته هدایت اوکړې دوی نه پوهیږی.(۲)

قِيْلَ	ادْخُلِ الْجَنَّةَ ؕ	قَالَ	يٰلَيْتَ	قَوْمِيْ		
اووئیلې شو (هغه ته)	چې ننوزه جنت ته	اووئیل هغه	افسوس	چې قوم زما		
هغه ته اووئیلې شو	اچې ته جنت ته داخل شه	هغه اووئیل	.....	انې افسوس چې		
يَعْلَمُوْنَ ۙ﴿۲۶﴾	بِمَا	غَفَرَ لِيْ	رَبِّيْ	وَجَعَلَنِيْ	مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ﴿۲۷﴾	
پوهیدلې	په هغه	چې اوبخښلم زهٔ	رب زما	اووې ګرزولم زهٔ	دعزتمند خلقو نه	
زماقوم ته داخبره معلومه وې	چې زه خپل رب اوبخښلم	او په عزتمندو خلقو کښې ئې شامل کړم				
وَمَآ اَنْزَلْنَا	عَلٰى قَوْمِهٖ	مِنْۢ بَعْدِهٖ	مِنْ جُنْدٍ	مِّنَ السَّمَآءِ		
او نازل نهٔ کړو مونږه	په قوم دهغه باندې	روستو دهغه نه	څه لښکر	دآسمان نه		
اومونږ دهغه نه پس دهغه په قوم باندې د(عذاب دپاره) دآسمان نه څه لښکرې نه وې رالیږلې						
وَمَا كُنَّا	مُنْزِلِيْنَ﴿۲۸﴾	اِنْ كَانَتْ	اِلَّا صَيْحَةً	وَّاحِدَةً	فَاِذَا	
اونهٔ وو مونږه	الیږونکی دلښکرو	نهٔ وو (هغه عذاب)	مګر وه چغه	یوه	پس په هغه دم	
اونه لښکر راکوزولو ته زمونږ حاجت وو	هغه (عذاب) خوبس یوه چغه وه	نو ټول				
هُمْ	خٰمِدُوْنَ﴿۲۹﴾					
وو هغوی	یخ پخ پراته					
په هم هغه وخت سارهٔ شول						

قوله تعالی:: قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ

د مؤمن د پاره د جنت زیرې :- حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه دې کافرانوهغه کامل مؤمن ډیر خراب اووهلوهغه ئی راګذارکړواودهغه په خپټه کیناستل اوپه پښوباندې چغټی کړو تردې چه د هغه کولمې روستو نه راووتلې. هم هغه وخت هغه ته د الله تعالی د طرف نه د جنت زیرې ملاوشو. هغه الله تعالی د دنیاد غم دردنه آزاد کړو اوپه امن او آرام سره ئی جنت ته اورسولو. د هغه په شهادت سره الله تعالی خوشحاله شو. جنت د هغه د پاره کولاوکړې شو اود داخلیدو اجازت ورکړې شو. خپل اجر او ثواب عزت اواکرام ته په کتلوسره هغه بیا اووئیل چه افسوس زما قوم دالیدلې چه زه خپل رب اوبښلم اوزمائی ډیر زیات اکرام اوکړو.(۳) په واقع کښې مؤمن د ټولوخیرخواه وی اوهغه دهوکه باز او بدخواه

---

۱) الطبری: ۵۰۸/۲۰.
۲) الطبری: ۵۰۸/۲۰.
۳) الطبری: ۵۰۹/۲۰.

Scanned with Ca

نه وی. هغه د الله تعالی والا سړی په ژوند کښې هم د خپل قوم خیرخواهی اوکړه او د مرګ نه پس هم د هغوی خیرخواه وو. داهم مطلب دې چه هغه وئیل چه افسوس زما قوم ته دا معلومه شوې وې چه ما له په څه وجه رب دابخښنه راکړه اوولې زما عزت اوکړو نولامحاله هغوی به هم د دې څیز د حاصلولو کوشش کولوپه الله تعالی به ئې ایمان راوړلو اود رسولانومنل به ئې کول. الله تعالی دې په هغه باندې رحمت اوکړی اود هغه نه دې خوشحاله شی. ګورئی چه د قوم د هدایت څومره خواهش مندوو.

عروه بن سعود ؓ هم دغه شان شهید کړې شو: حضرت عروه بن مسعود ثقفی ؓ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو حضور ﷺ که اجازت وی نو زه به خپل قوم له د دین د تبلیغ د پاره لاړشم او هغوی نه به د اسلام دعوت ورکړم؟ حضور ﷺ اوفرمائیل هسې نه چه هغوی تاقتل کړی. جواب ئې ورکړو چه حضور ﷺ ددې خبرې خو احتمال نشته خکه چه د هغوی ماسره دومره مینه او عقیدت دې که چرې زه اوده شم نوهغوی ما راپاسوی هم نه. حضور ﷺ اوفرمائیل چه ښه ده بیا لاړشه. دې لاړو چه کله د لات اوعزی بتانوسره دې تیریدلو نو وئی وئیل اوس ستاسو تباهی راغله په دې خبره باندې ټول قبیله ثقیف غصه شوه. هغه ویناکول شروع کړه چه اې زما د قوم خلقو تاسودا بتان پریږدئ لات او عزی په اصل کښې هیڅ څیزونه نه دی. اسلام قبول کړئ نو سلامتیا به درته حاصله شی. اې زما رونړو تاسو یقین اوکړئ چه دا بتان هیڅ حقیقت نه لری. ټوله ښیګړه په اسلام کښې ده. وغیره. اوس ئې لاصرف دړې څل داکلمه لوستلې وه چه یودوزخی بدنصیبه د لرې نه یوغشی اوویشتلو او د اکحل په رګ باندې اولګیدلو اوهم هغه وخت شهیدشو. حضور ﷺ له چه کله داخبر راورسیدو نوحضور ﷺ اوفرمائیل چه دې هم داسې وولکه چه دسورت یاسین والا چه وئیلې افسوس چه زما قوم زما مغفرت او عزت پیژندلې وې.(۱)

دحبیب بن زید قصه: حضرت کعب احبار رحمه الله ته چه کله د حبیب بن زید بن عاصم ؓ ذکر اوکړې شوځوک چه د قبیله مازن بن نجار نه وو کوم چه په جنګ یمامه کښې مسیلمه کذاب شهیدکړې وو نو هغوی اوفرمائیل چه د الله تعالی قسم داحبیب ؓ هم د هغه حبیب په شان دې د کوم ذکر چه په سورت یاسین کښې دې. د هغه نه دې کذاب د رسول الله ﷺ باره کښې تپوس اوکړو نوهغه اوفرمائیل بې شکه هغه د الله تعالی رسول ﷺ دې. هغه وئیل چه زما هم ته ګواهی ورکوې چه زه هم رسول یم؟ نو حضرت حبیب ؓ اوفرمائیل چه زه نااورم. هغه وئیل د محمد ﷺ باره کښې ته څه وائې؟ هغه اوفرمائیل زه د هغه رسالت په صدق سره منم. هغه بیا سوال اوکړوزماد رسالت باره کښې څه وائې؟ جواب ئې ورکړو زه نه اورم. هغه ملعون وئیل د هغه باره کښې خو اورې اوزما باره کښې بیاکونړشې نه اورې. د دې نه پس به ئې یوځل تپوس کولو او په دې جواب ورکولو به ئې تړې د بدن یواندام پرې کولو. بیابه ئې تپوس کولو اوهم داجواب به ئې ورکولو اوبیابه ئې تړې یواندام پرې کولو دغه شان ئې د بدن یویوجوړ کټ کړو او په خپل رښتونی اسلام باندې ترآخره پورې قایم پاتې شو اوچه کوم جواب ئې ود ترآخره پورې ئې هم هغه ورکولو تردې چه شهیدکړې شو. (رضی الله تعالی عنه وارضاه)

قوله تعالی:: وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى قَوْمِهٖ

د هغه قوم د هلاکت بیان:: ددې نه پس چه په هغه خلقو دالله تعالی کوم غضب نازل شواو په کوم عذاب سره هغوی غرق کړې شو د هغې ذکرکولې شی. هغوی دالله تعالی د رسولانوتکذیب کړې وو اود الله تعالی ولې ئې قتل کړې وو په د دې وجه نه په هغوی باندې د الله تعالی عذاب نازل شو اوهلاک کړې شو. د هغوی د بربادولو د پاره خو الله تعالی نه د آسمان څه لښکر راولیګلو نه ئې څه خاص تیاری اوکړو نه ئې په هغوی پسې فرښتې راکوزې کړې اونه د لوئ نه د لوئ کارد پاره هغه ته د دې ضرورت

---

(۱) حاکم:۳/۶۱۵-۶۱۶، ابن ابی حاتم:۱۲/۶۱بدون الایه.

شته د هغه خو صرف حکم ورکول کافی دی نه نی د دې نه پس هغوی ته څه تنبیه اوکړه بلکه بغیرد مهلت نه نی په عذاب کښې راګیرکړل اوبغیرد دې نه نه د هغوی څوك نوم اخستونکې پاتې شو اونه نی څوك د اوبو ورکونکی پاتې شو. د اول نه ترآخره پورې یو یونی ټول فناکړل. حضرت جبرائیل ﷺ راغلو اود هغوی د ښار انطاکیه د دروازې چوکاټ نی اونیولو او دومره په زوره چغه نی اووهله چه د هغوی اینې نی اوشلولې زړونه نی تري اوویستل اوروحونه تري لاړل.

دا دري رسولان وو د عیسی ﷺ قاصدان نه وو: دحضرت قتاده رضی الله عنه نه روایت دې چه هغوی له کوم دري رسولان راغلی وو دا دحضرت عیسی ﷺ رالیګلې شوی قاصدان ووخوپه دې کښې لږ شان کلام دې.اول خودا چه دقصې د ظاهرنه دا معلومیږی چه هغه مستقل رسولان وو. ارشاد دې ﴿إِذْ أَرْسَلْنَا﴾ کله چه مونږ د هغوی طرف ته دوه رسولان اولیګل کله چه هغوی دا دواړه دروغ اوګڼړل نود هغوی د امداد د پاره مونږ دریم رسول اولیګلو. بیا د الله تعالی دې رسولانو اهل انطاکیه ته اووئیل ﴿انا الیکم مرسلون﴾ یعنی مونږستاسوطرف ته رسولان یو. نوکه دا دریواړه د حضرت عیسی ﷺ د حواریانو نه د حضرت عیسی ﷺ رالیګلې شوی وونوهغوی‌له داویناکول مناسب نه وو بلکه هغوی به څه داسې جمله وئیله د کوم نه چه معلومیدلۀ چه دا د حضرت عیسی ﷺ قاصدان دی. والله اعلم.

بیاداهم یوه قرینه ده چه د انطاکیه کافران د هغې په جواب کښې وائی ﴿قَالُوا مَا أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَمَا أَنْزَلَ الرَّحْمَٰنُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ﴾ (۱) تاسو خو هم زمونږ په شان انسانان نی ګورئی چه هم دا کلمه کافرانوهمیشه رسولانوته وئیلې ده که هغوی د حواریانو نه وونوبیاخود هغوی دعوی د رسالت مستقل نه وه. بیا دې خلقو دوی ته دا الزام ولې ورکولو؟

دویم د اهل انطاکیه طرف ته د حضرت مسیح ﷺ قاصدان تلی وو اوهغه وخت د دغه کلی خلقو په هغوی باندې ایمان راوړې وو بلکه هم دا هغه رومبې کلي دې چه ټولو په ټولوپه حضرت عیسی ﷺ باندې ایمان راوړو. د دې د پاره د نصرانیانو هغه ځلور ښارونه کوم چه مقدس ګڼلې شی په هغې کښې یوداهم دې. د بیت المقدس هغوی په دې وجه قائل ووچه هغه د حضرت عیسی ﷺ ښاردې اوانطاکیه ته به نی د حرمت والا ښار ځکه وئیلو چه د ټولونه اول هم د دې ځای خلقو په حضرت عیسی ﷺباندې ایمان راوړې وواوداسکندریه د عظمت وجه دا ده چه دلته هغوی د خپل مذهبی عهدیدارانو مقررولو اجتماع کړې وه اود رومیه د حرمت په دې وجه قائل ووچه داد شاه قسطنطین ښاروو. هم دې بادشاه د هغوی د دین امدادکړې وواوهم دلته د هغه تبرکات وو. بیاچه کله هغوی قسطنطنیه ښارآباد کړونوهغه تبرکات نی د رومیه نه دلته راوړل کیځودل.

سعدبن بطریق وغیره نصرانی مؤرخینو په تاریخونوکښې دا ټول واقعات ذکر کړی دی. مسلمانانانو تاریخ دانانوهم دا لیکلی دی. نومعلومه شوه د انطاکیه والا دحضرت عیسی ﷺ د قاصدانو منلی وو اودلته بیان دې چه هغوی اونه منل او په هغوی باندې د الله تعالی عذاب راغلواوهغوی تباه بربادکړل نوثابته شوه چه داواقعه بله ده. دا رسولان په مستقل رسالت باندې ماموروو اوهغوی اونه منل چه په هغې سزا کړې شو اوبې نومه اوبې ننبې کړل اود سحرد چراغ په شان مړه کړې شو. والله اعلم.

دریم دا چه د انطاکیه والا خلقو قصه دحضرت عیسی ﷺ د حواریانوسره واقع شوه نودا خو قطعًا د تورات د نازلیدلو نه د پس وخت ده اود حضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه اوسلفو یوجماعت نه نقل دی چه د تورات د نازلیدلونه پس یوکلی هم الله تعالی په خپل آسمانی عذاب باندې بالکل نه دې بربادکړې بلکه مؤمنانو ته ئی د کافرانوسره د جهاد حکم ورکړو اوکافران ئی په دې سره خوار اوذلیل کړل لکه

---

(۱) ۳۶/یٰس:۱۵.

Scanned with Ca

چه آیت ﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى بَصَآىِٕرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ﴾ [1] په تفسیر کښې دی اود دې کلی په آسمانی هلاکت باندې قرآنی آیاتونه شاهد دي د کوم نه چه عدل واضح دي. نو د دې نه دا هم ثابتیږی چه داواقعه د انطاکیه نه ده لکه د بعضې سلفواقوال هم دا مطلق اود مقرر مقام نه آزاده ګنړی. د هغوی قول دې چه دې نه مراد مشهوربناریه انطاکیه نه ده اوداهم کیدې شی چه انطاکیه نومې یوبل بناروی اوداواقعه د هغه ځای وی. ځکه چه کومه انطاکیه مشهوره ده د هغې د الله ﷻ په عذاب سره تباه اوبربادکیدل مشهورنه دی نه د نصرانیت په زمانه کښې اونه د دې نه وړاندې. والله سبحانه وتعالی اعلم. داهم یادساتئی چه د طبرانی یومرفوع حدیث کښې دی چه په دنیاکښې دري کسان سبقت کولوکښې د ټولونه وړاندې وتلې دی.دحضرت موسی علیه السلام سبقت کونکې خوحضرت یوشع بن نون وو اود حضرت عیسی علیه السلام طرف ته وړاندیوالې کونکې هغه وو د کوم ذکر چه په سورت یاسین کښې دي اود محمد ﷺ په خدمت کښې وړاندې کیدونکې حضرت علی رضي الله عنه بن ابی طالب وو. [2] داحدیث بالکل منکر دي صرف حسین اشقر دا روایت کوی اوهغه شیعه اومتروک دي. والله اعلم.

يٰحَسْرَةً	عَلَى الْعِبَادِ ۚ	مَا يَاْتِيْهِمْ		
ا اے افسوس دي ا په حال دبندګانو باندې ا نۀ دې راغلې دوئ ته ا				
ا افسوس دي ! ددغه بندګانو په حال چې کله ورته څوک پیغمبر				
مِّنْ رَّسُوْلٍ	اِلَّا كَانُوْا	بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝	اَلَمْ يَرَوْا	
یو رسول ا مګر ا ووئ دوئ ا چې په هغه پورې به ئې توقې کولې ا آیا نۀ وینی دوئ ا				
ورغلې وو ا نو دوئ به ورپورې توقې کولې ا ..... آیا دوئ دې خبرې ته				
كَمْ اَهْلَكْنَا	قَبْلَهُمْ	مِّنَ الْقُرُوْنِ	اَنَّهُمْ	
چې څومره هلاک کړې دی مونږه ا مخکښې ددوئ نه ا دقومونو نه ا چې بیشکه هغوئ ا				
نه ګوری ا چې ددوئ نه وړاندې مونږ څومره قومونه تباه کړل ا ..... کوم چې به دوی ته				
اِلَيْهِمْ	لَا يَرْجِعُوْنَ ۝	وَاِنْ كُلٌّ	لَّمَّا جَمِيْعٌ	لَّدَيْنَا	مُحْضَرُوْنَ ۝
دوئ ته ا نۀ واپس کیږی ا اونۀ دی دا ټول ا مګر دا ټول به ا مونږ ته ا حاضر کړې کیږی ا					
واپس رانشی ا .....او ټول به مونږ ته مخامخ پیش کړې شی					
وَاٰيَةٌ	لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ۚ	اَحْيَيْنٰهَا	وَاَخْرَجْنَا	
او نښه دتوحید ده ا دپاره ددوئ ا زمکه ا مړه ا ژوندئ کړه مونږه هغه ا او راوویستله مونږه ا				
اودوئ دپاره یوه نښه مړه (اوچه) زمکه هم ده ا .....چې مونږ هغه راژوندئ کړه				
مِنْهَا	حَبًّا	فَمِنْهُ	يَاْكُلُوْنَ ۝	وَجَعَلْنَا	فِيْهَا	جَنّٰتٍ
دهغې نه ا دانه (غله) ا پس دهغې نه ا خوری دوئ ا او پیدا کړل مونږه ا په هغې کښې ا باغونه						
اوغلې مو تري نه رازرغون کړې ا ..... نودوئ دهغې نه خوراکونه کوی ا اومونږ په دې کښې دکهجورو						

[1] ۲۸/القصص:۴۳.

[2] طبرانی:۱۱۱۵۲مجمع الزوائد:۱۰۲/۹.

مِّنْ نَّخِيْلٍ	وَّاَعْنَابٍ	وَّفَجَّرْنَا	فِيْهَا	مِنَ الْعُيُوْنِ ۙ
دکجورو	او دانګورو	او جاری کړې مونږه	په هغې کښې	دچینونه
او انګورو باغونه پیدا کړی دی	.....	او په دې کښې مو چینې جاری کړې دی		
لِيَاْكُلُوْا	مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ	وَمَا عَمِلَتْهُ	اَيْدِيْهِمْ ؕ	
دپاره ددې چې اوخوری دوئ	ادمیوې دهغې نه	اونۀ دې کړې دا پیدا وښت	لاسونو ددوئ	
ددې دپاره چې دوئ ددغې باغونو میوې اوخوری	اوداځیزونه ددوئ لاسونو نه دی جوړ کړی			
اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝	سُبْحٰنَ	الَّذِيْ	خَلَقَ الْاَزْوَاجَ	كُلَّهَا
آیا پس دوئ شکر نۀ اوباسئ	پاکی ده	هغه ذات لره	چې پیدا نې کړل قسمونه	ټول
نوبیا دوئ شکر ولې نه اوباسی	الله ﷻ هغه ذات دې چا چې ددې ټولو ځیزونو جوړې پیدا کړی دی			
مِمَّا	تُنْۢبِتُ	الْاَرْضُ	وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ	وَمِمَّا
دهغې نه	چې زرغونوی ئې	زمکه	او په خپله دنفسونو ددوئ نه	او دهغې نه
هم د زمکې په زرغونه کښې	اودغه شان د دوی په نفسونو کښې هم	اوپه هغه ځیزونو کښې		
لَا يَعْلَمُوْنَ ۝				
چې دوئ ئې نۀ پیژنی				
چې دوئ ته هډو معلوم نه دی				

قوله تعالی:: يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ

دانبیاء کرامو علیهم السلام خبره نه منونکوباندې حسرت اوافسوس:- په بندیګانو باندې حسرت او افسوس دې. بندیګان به صبا په خپل ځان باندې ځنګه پښیمانه وی اوباربار به وائی ارمان افسوس مونږ خو خپل ځان پخپله خراب کړې. په بعضې قراءتونوکښې ((یحسرة العباد علی انفسها)) هم دې. (۱) مطلب دا دې چه د قیامت په ورځ عذابونه اووینی نو لاسونه به مروړی او چه هغوی ولې د رسولانو تکذیب کولو او ولې ئې د الله تعالی د حکم خلاف کولو.

په دنیاکښې خود دوی داحال ووچه کله هم یورسول راغلې هغوی بغیرد څه ډیل نه دروغ ګنړلې او په کولاوزړه سره ئې د هغه بې ادبی اوسپکاوې کړې دې. اوکه دلته ئې لږ تامل کړې وونوسوچ به ئې کولو چه د دوی نه وړاندې کومو خلقو د پیغمبرانو نه دی منلې هغوی غرق اوتباه کړې شو اود هغوی خاوره ئې هم والوزوله. د هغوی نه خو یوهم بچ نه شو اونه د آخرت د هغه کورنه څوک واپس راغلو. په دې کښې د هغه خلقو هم رد دې کوم چه دهریه وو اود هغوی داخیال وو چه هم داسې به په دنیاکښې ګرځو ژوندی به یو او مړه کیږوبه په واپس کیدو به بیا دنیاته راځو ټول تیرشوی خلق موجود خلق او راتلونکی خلق به د قیامت په و رځ د الله تعالی په وړاندې د حساب کتاب د پاره پیش کولې شي. اوهلته په د هرې یوې بدئ اوهرې یوې نیکئی بدله ملاویږی. لکه چه بل آیت کښې ارشاد دې ﴿وَاِنْ كُلًّا

---

(۱) الطبری: ۵۱۲/۲۰.

Scanned with Ca

لَمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ ۖ إِنَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴿۱۱﴾ (۱) یعنی هرسړی ته به د هغه د اعمالو پوره بدله ستاسو رب ورکوی. په یوقراءت کښیې (لَمَا) دې نود دې اثبات د پاره به وی اود (لَمَا) لوستلو په وخت ان نافیه به وی اولمّا به په معنی د اِلّا وی نود آیت مطلب به داسې وی چه نه دی ټول ولې ټول په ټول به زمونږ په وړاندې حاضرږی. په دویم قراءت باندې به ئی هم مطلب هم دغه وی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

قوله تعالی:: وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ

د الله تعالی د وجود یوعظیم الشان نخښه:- الله تعالی ارشاد فرمائی چه زما په وجودباندې اوزما په زبردست قدرت باندې اود مړو په ژوندی کولوباندې یوه نښه داهم ده چه مړه زمکه اوچه او شاړه پرته وی په کومه کښې چه هیڅ شینکې تازه والې ټوك وانښه وغیره نه وی زه په دې باندې د آسمان نه اوبه راوروم اوهغه مړه زمکه بیا راژوندئ شی شنه خوزږی هرطرف ته شینکې او هم شینکې راټوکیږی اوقسم قسم میوې اوګلونه ښکاری نوفرمائی چه مونږ دا مړه زمکه راژوندئ کړو او په دې کښې قسم قسم غلې راپیداکړو بعضې تاسو خورئ اوبعضې ستاسو څاروی خوری. مونږ په دې کښې د کهجورو انګورو باغونه تیارږو نهرونه په کښې روانوو کوم چه باغونه اوپتی آبادوی اوخړوب کوی. دا ټول څکه چه د دې ونومیوې دنیااوخوری د پټواو باغونو ګټه حاصله کړی اوخپل حاجتونه پوره کړی. داهرڅه د الله تعالی په رحمت اود هغه په قدرت سره پیداکیږی د چا په وس اواختیارکښې نشته. ستاسو د لاسونو پیداکړې شوی څیزونه نه دی اونه په تاسوکښې د دې د راټوکولوطاقت شته اونه په تاسو کښې د دې د بچ کولوقدرت شته اونه د دې د پخولو اوتیارولو په تاسوکښې څه اختیارشته. صرف د الله تعالی داکار دې اود هغه مهربانی ده. اود هغه د احسان سره سره دا د هغه د قدرت نمونې دی بیا په دې خلقو څه شوی دی چه شکر نه کوی؟ اود الله تعالی ډیر زیات او بې شمیره نعمتونه هغه سره وی اود هغه احسان نه منی.یومطلب ئی دابیان کړې دې چه دباغونو میوې داکوم چه خوری هغوی د خپل لاس کرلې شوی هغوی ګنړی. د ابن مسعود ﷺ په قراءت کښې ((ومماعملته ایدیهم)) دی. پاك د برکت نه دك اود ټولونقصانونونه بری هغه الله تعالی دې چاچه د زمکې پیداوار اوپخپله تاسو هم جوړه جوړه پیداکړی ئې اود مختلف قسمونو مخلوق جوړې ئې جوړې کړی دی کوم چه تاسو پیژنئی هم نه. لکه چه بل آیت کښې دی ((وَمِن كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ))(۲) مونږ د هریوڅیز جوړې پیداکړی دی دې د پاره چه تاسو نصیحت حاصل کړئ.

وَآيَةٌ	لَّهُمُ	الَّيْلُ	نَسْلَخُ	مِنْهُ	
او نښه دتوحید ده	دپاره ددوئ	شپه	چې راوباسو مونږه	دهغې نه	
او د دوئ دپاره یو نښه شپه ده	چې مونږ تري نه رنړا				
النَّهَارَ	فَإِذَا	هُم	مُّظْلِمُونَ	وَالشَّمْسُ	تَجْرِي
ورځ	پس یودم	هغوئ	په تیاره کښې وی	اونمر دې	چې روان دې
ورځ راکاږو	نودوئ په تیارۀ کښې پاتې شی	اویوه (نښه) نمر دې	چې په خپله مقرره لاره روان دې		
لَهَا	ذَٰلِكَ	تَقْدِيرُ	الْعَزِيزِ	الْعَلِيمِ	وَالْقَمَرَ
چې مقرري دې هغه لره	دا	اندازه ده	دغالب	عالم الله	او سپوږمئ ده
دا د زبردست او پوهه الله ﷻ ټرلې اندازه ده	.....				اومونږ د سپوږمئ دپاره

(۱) ۱۱/هود:۱۱۱.

(۲) ۵۱/الذاریات:۴۹.

قَدَّرْنٰهُ	مَنَازِلَ	حَتّٰى	عَادَ
چې مقرر کړې دی مونږه هغې لره |	منزلونه |	تر دې پورې |	چې واپس اوګرځی |
منزلونه مقرر کړې دی | (وړیږی وړیږی) تردې چې دکهجورې د زړې ځانګې په شان			
كَالْعُرْجُوْنِ	الْقَدِيْمِ ۝	لَا الشَّمْسُ	يَنْۢبَغِيْ لَهَآ	اَنْ تُدْرِكَ
پشان دځانګې دکجورو | پخوانۍ (وچې) |	نه دې نمر | چې مناسب وی هغه لره | چې اورسوی			
وړه پاتې شی |..... نه نمر دپاره دامکن ده | چې هغه (وړاندې شی او) سپوږمۍ رالاندې کړی |				
الْقَمَرَ	وَلَا الَّيْلُ	سَابِقُ	النَّهَارِ ط	وَكُلٌّ	فِيْ فَلَكٍ ۔
سپوږمۍ |	اونۀ شپه |	مخکښې کیدونکی ده |	دورځې نه |	او ټول |	په اسمان کښې |
اونه شپه دورځې نه مخکښې راتلې شی | اوهر یو پخپل خپل مدار کښې (لګیا دې)					
يَّسْبَحُوْنَ ۝					
لامبو وهی					
لامبو (چکر) وهی					

قوله تعالی:: وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ

د یوې بلې نخښې ذکر:- د الله تعالی د قدرت کامله یوه نښه بیانولې شی اوهغه شپه اوورځ ده چه د رنړا او تیارې والا دی اوبرابر یوبل پسې ځی راځی. لکه چه بل ځای ارشاد دې ﴿الَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا ۙ وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ۭ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ۭ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ (۱) شپه په ورځ سره پټوی شپه ورځ زر زر لټوی راځی. دلته نی هم اوفرمائیل چه مونږ د شپې نه ورځ راکاږو ورځ خو ختمه شوه اوشپه راغله اود څلورو واړو طرفونه تیاره خوره شوه. په حدیث کښې دی چه کله د تیارې نه شپه راشی او ورځ د اخوانه لاړه شی اونمر ډوب شی نو روژه دار دې روژې ماتې کړی. (۲) ظاهری آیت خوهم دا دې خوقتاده رحمه الله فرمائی د دې مطلب په شان د آیت ﴿يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ﴾ (۳) دې. یعنی الله تعالی شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې داخلوی.

امام ابن جریر رحمه الله دا قول ضعیف ګنړی اوفرمائی په دې آیت کښې چه داکوم لفظ "ایلاج" دې د دې معنی د یوکمې اود بل زیاتې دې اودا مراد په دې آیت کښې نه دې. د امام صاحب رحمه الله داقول حق دې.

قوله تعالی:: وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۭ

د مستقر نه مراد خو مستقرمکانی یعنی د قرار ځای دې اوهغه د عرش لاندې هم هغه طرف دې. بس یونمر نه بلکه ټول مخلوق د عرش لاندې دې ځکه چه عرش د ټول مخلوق د پاسه دې اوټول نی راګیرکړی دی. اوهغه کره یعنی ګول څیز نه دې لکه چه هیئت دان وائی بلکه هغه د ګنبدپه شکل کښې دې. د کوم چه پښې دی اوفرښتو هغه اوچت کړې دې. د انسانانو په سرونوباندې د پاسه پاسه عالم کښې دې. نوچه کله نمر په آسمانی ګنبد کښې تیک د ماسپښین په وخت کښې وی هغه وخت هغه

---

(۱) ۷/الاعراف:۵۴.
(۲) صحیح بخاری کتاب الصوم باب متی یحل فطر الصائم:۱۹۵۴، صحیح مسلم:۱۱۰۰، ابوداؤد: ۲۳۵۱، ترمذی:۶۹۸
(۳) ۳۵/فاطر:۱۳.

Scanned with Ca

عرش سره ډير نيزدې وی بياچه کله هغه راتاوشی اوپه څلورم اسمان کښې هم د دې مقام مقابل کښې راشی نودا د نيمې شپې وخت وی اوهغه د عرش نه ډير لرې وی نوهغه سجده کوی اود راختو اجازت غواړی لکه څنګه چه په احاديثوکښې دی.

صحيح بخاری کښې د حضرت ابوذر ﷺ نه روايت دې زه د نمر د ډوبيدو په وخت کښې رسول الله ﷺ سره په جمات کښې ووم. حضور ﷺ ماته اوفرمائيل معلومه ده چه دانمر چرته ډوبيږی؟ ماوئيل چه الله تعالی اود هغه رسول ﷺ ښه پوهيږی. حضور ﷺ اوفرمائيل هغه د عرش لاندې لاړشی اوالله تعالی ته سجده کوی. بيا حضور ﷺ داآيت **(والشمس)** تلاوت اوکړو.(۱)

په يوبل حديث کښې دی دحضور ﷺنه حضرت ابوذر ﷺ د دې آيت مطلب تپوس اوکړو نوحضور ﷺ اوفرمائيل د ده د آرام ځائ د عرش لاندې دې.(۲) په مسنداحمدکښې د دې نه په وړاندينی حديث کښې هم دی چه هغه د الله تعالی نه د واپس کيدو اجازت غواړی اوهغه ته اجازت ورکولې شی لکه چه ده ته وئيلې شی د کوم ځائ نه چه راغلې نی هغه ځائ ته واپس شه نوهغه د خپل راختود ځائ نه راخيژی اوهم دغه د ده مستقر دې. بيا حضور ﷺ د دې آيت د شروع فقره اولوستله.(۳) په يوروايت کښې داهم دی چه نيزدې دې چه هغه سجده اوکړی خوقبلولې به نه شی اواجازت به غواړی خو اجازت به نه شی ورکولې بلکه ورته به وئيلې شی چه د کوم ځائ نه راغلې نی هم هلته لاړشه نوهغه به هم د مغرب نه راخيژی.(۴) هم داد دې آيت کريمه معنی ده. حضرت عبدالله بن عمر ﷺفرمائی چه نمر راخيژی هغه د انسانانو ګناهونه واپس کوی هغه ډوبيږی اوپه سجده کښې پريوځی او اجازت غواړی اجازت ملاويږی. يوه ورځ به دې ډوبيږی او په داسې عاجزئ به سجده کوی چه اجازت به غواړی خواجازت به نه شی ورکولې. هغه به وائی چه لار لرې ده اواجازت ملاونه شو په دې وجه به اونه رسيدې شم. بيابه لږ ساعت حصارولو نه پس هغه ته وئيلې شی په کوم ځائ کښې چه ډوب شوې وې هم د هغه ځائ نه راوخيژه. هم دغه به د قيامت ورځ وی په کومه ورځ چه به ايمان راوړل بې کاره وی اونيکئی کول به هم د هغوی د پاره چه د اول نه نيکوکارنه وو بې کاره به وی. اودا هم وئيلې شوی دی چه د مستقر نه مراد د هغه د تلو انتهاء ده. پوره اوچتوالې چه په کرمو کښې وی اوپوره ښکته والې چه په ژمی کښې وی نودا يوقول شو.

دويم قول دادې چه په دې آيت کښې د مستقرد لفظ نه مراد د ده د چال خاتمه ده د قيامت په ورځ به د ده حرکت اودريږی دا به بې نوره شی دا عالم کل به ټول ختم شی. دامستقر زمانی دې. حضرت قتاده ﷺ فرمائی چه هغه په خپل مستقرباندې روان وی يعنی په خپل وخت اوميعاد باندې چه دهغې نه وړاندهوالې نه شی کولې.(۵) په ژمی او اوړی کښې چه د هغه کومې لارې مقرر دی هم په هغه لاروباندې ځی راځی.

د ابن مسعود ﷺ قرات او د دهغه مطلب:: د ابن مسعود ﷺاوابن عباس ﷺ قراءت **(لامستقرلها)** دې يعنی د ده د پاره سکون اوقرار نشته بلکه شپه ورځ د الله تعالی په حکم سره روان وی نه اودريږی اونه ستړې

---

۱) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة يسٓ باب قوله ﴿والشمس تجری لمستقرلها...﴾:٤٨٠٢، صحيح مسلم: ١٥٩بدون الايه.

۲) صحيح بخاری کتاب التفسير سورة يسٓ باب قوله ﴿والشمس تجری لمستقرلها﴾:٤٨٠٣،صحيح مسلم:١٥٩، احمد:١٥٨/٥، ابن حبان:٦١٥٢.

۳) احمد:١٥٢/٥، صحيح بخاری کتاب بدء الخلق باب صفه الشمس والقمر:٣١٩٩، صحيح مسلم: ١٥٩، ترمذی:٢١٨٦،السنن الکبری:١١٤٣٠، شرح مشکل الاثار:٢٨١،ابن حبان: ٦١٥٤، الاسماء والصفات ص ٣٩٢، مسندالطيالسی:٤٦٠.

۴) صحيح بخاری:٣١٩٩.

۵) الطبری:٢٠٥١٧.

کیږی. لکه چه ارشاد دی ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ﴾ (۱) یعنی هغه ستاسود پاره نمر اوسپوږمئی مسخر کړی دی چه نه ستړی کیږی اونه اودریږی د قیامته پورې به روان وی. دا اندازه د هغه الله تعالی ده چه غالب دی. د کوم چه څوک مخالفت نه شی کولې. د چاحکم چه څوک روستوکولې نه شی. هغه علیم دی اوهغه هریوحرکت او سکون پیژنی. هغه په خپل کامل حکمت سره د دې رفتار مقررکړې دی. په کوم کښې چه نه اختلاف واقع کیدې شی اونه د دې برعکس کیدې شی. لکه چه ارشاد دی ﴿فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ﴾ (۲) د سحر راویستونکې چا چه شپه د راحت وخت جوړکړو اونمر اوسپوږمئی په حساب سره مقررکړل. دا اندازه د علم د خاوند ده. د حم سجده آیت ئی هم داسې ختم کړو.

قوله تعالی:: وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ

دسپوږمئ منزلونه او د هغې حکمتونه:: بیا فرمائی چه د سپوږمئی مونږ منزلونه مقررکړی دی هغه په یو جدا چال باندې روانه ده. په کوم سره چه میاشتې معلومې شی. لکه چه د نمر په چال سره شپه ورځ معلومیدې شی. لکه چه ارشاد دی خلق تانه د سپوږمئی باره کښې تپوس کوی نوجواب ورکړه چه د حج او وختونود معلومولود پاره دی. او په دې آیت کښې ارشاد دی چه هغه نمر ضیاء او سپوږمئی نورکړې دی اود دې منزلونه ئی اودرولې دی دې د پاره چه تاسو کالونه او حساب معلوم کړئ.

یوآیت کښې دی چه مونږ شپه اوورځ دوه نښې جوړې کړی دی. د شپې نښه مونږ تیاره جوړه کړې اود ورځې نشانی مو رنړا جوړه کړې ده دې د پاره چه تاسو په دې کښې د خپل رب نازل کړی شوې رزق اولټوئ اود کالونوحساب کتاب معلوم کړې شئی. مونږ هریوڅیز په ښه تفصیل سره بیان کړی دی. د نمر پرق پروق ده سره مخصوص دې اود سپوږمئی رنړا د دې نه ده. اود دې رفتارهم مختلف دې. نمر هره ورځ ډوبیږی اوراخیژی اوهم په دغه رنړا سره وی. اود دې د ډوبیدو اوراختو خایونه په ژمی اوړی کښې جدا جداوی. هم په دې وجه د شپې ورځې په اوږدوالی کښې کمې زیاتې کیږی. نمردورځې ستوری دې اوسپوږمئی د شپې ستوری دې.د دې منزلونه مقرر دی.

سپوږمئی د میاشتې په رومبنی شپه راخیژی ډیره وړه غوندې وی کمه رنړائی وی په دویمه شپه ئی رنړادې نه زیاتیږی اومنزل ئی هم ترقی کوی. بیاچه څومره څومره اوچتیږی رنړانی زیاتیږی لکه د دې رنړاچه د نمر نه ملاوشوې وی آخر په څلوارلسمه شپه سپوږمئی پوره شی اود دې رنړا هم پوره کیږی. بیا کمیدل شروع کوی اودغه شان درجه په درجه وار په وار کمیږی اوپه مثال د کهجورې د څانګې د ډکی په شان کیږی. په عربوکښې دسپوږمئی د رنړا په اعتبار سره د میاشتې د شپو نومونه کیخودلې شوی دی. مثلاً د رومبو دریوشپونوم "غرر" دې د دې نه پس د دریو شپونوم "نفل" دې اود دې نه پس د دریوشپونوم "تسع" دې څکه چه د دې آخری شپه نهمه وی د دې نه پس د دریوشپونوم "عشر" دې داځکه چه د دې شروع د لسونه ده ددې نه پس د دریوشپونوم "بیض" دې ځکه چه په دې شپوکښې د سپوږمئی رنړا ترآخره پورې وی. د دې نه پس د دریو شپو نوم د هغوی په نیز "درع" ده دا لفظ د درعاجمع ده د دې دانوم څکه کیخودلې دې چه د شپارلسمی سپوږمئی لږه روستو راخیژی نود لږ ساعت پورې تیاره یعنی تورواله وی او په عربوکښې هغه چیلنی چه د هغې سر تور وی "شاة درعا" وائی.

---

(۱) ۱۴/ابراهیم:۳۳.

(۲) ۶/الانعام:۹۶.

Scanned with Ca

قوله تعالی: اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ

د ادراک قمر مطلب: د دې نه پس دریو شپوته "ظلم" وائی بیادریو ته "حنادس" بیا دریوته "دراری" بیا دریو ته "محاق" ځکه چه په دې کښې سپوږمئی ختمه شی اومیاشت هم ختمه شی. ابوعبیده رحمه الله په دې کښې تسع اوعشر نه قبلوی اوګوری کتاب "غریب المصنف" د نمر او سپوږمئی حدونه هغه مقررکړی دی ناممکن دی چه یود خپل حدنه اخوا دیخواشې یاوړاندې روستوشی. د هغه په وخت کښې دا پته وی اود دې په وخت کښې هغه چپ وی. حسن رحمه الله وائی چه داسپوږمئی د شپې ده. د ابن مبارک رحمه الله قول دې د هواوزر دې اوسپوږمئی د اوبود غلاف لاندې ځائ کوی. ابوصالح رحمه الله فرمائی چه د دې رنړاد هغه رنړا نه شی رانیولې. عکرمه رحمه الله فرمائی چه د شپې نمر نه شی راختلې اونه شپه د ورځ نه وړاندیوالې کولې شی یعنی د شپې نه پس شپه نه شی راتلې بلکه په مینځ کښې به ورځ راځی. نود نمر بادشاهی د ورځې وی اود سپوږمئی حکومت د شپې وی. شپه د اخوانه راځی اودیخوا ځی یوبل پسې وی خوولې نه د جنګیدو ویره اونه د بې نظمئی خطره نه داچه ورځ دې لاړه شی شپه رانه شی اونه د دې خلاف یوځی اوبل راځی. هریوپه خپل خپل وخت سره غیبیږی اوحاضریږی. تول په تول یعنی نمر سپوږمئی ورځ شپه په آسمان کښې روان دی اوګرځی راګرځی. د زیدبن عاصم رحمه الله قول دې چه د آسمان اوزمکې په مینځ کښې په فلك کښې دا تول ګرځی راګرځی. خودا ډیر غریب بلکه منکر قول دې بعضې خلق وائی چه هغه فلك د څرخ د پولئی په شان دې بعضې خلق وائی چه دا د میچنې د پل د اوسپنې په شان دې.

وَاٰيَةٌ	لَّهُمْ	اَنَّا حَمَلْنَا	ذُرِّيَّتَهُمْ	
او بله نښه | دپاره ددوئ (داده) | چې مونږه سوارۀ کړل | اولاد ددوئ |				
| اوددوئ دپاره یوه نښه داهم ده | .....چې مونږ د دوئ بچی				
فِي الْفُلْكِ	الْمَشْحُوْنِ ۙ﴿٤١﴾	وَخَلَقْنَا	لَهُمْ	مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا
په کشتئ کښې | ډکه کړې شوی کښې | او پیدا کړل مونږه | دپاره ددوئ | پشان ددې | هغه څیزونه				
په ډکه بیړئ کښې سواره بوځو | .....او مونږ د بیړئ غوندې د سورلئ نور څیزونه				
يَرْكَبُوْنَ ﴿٤٢﴾	وَاِنْ نَّشَاْ	نُغْرِقْهُمْ	فَلَا صَرِيْخَ	
چې دوئ پرسوریږی | او که اوغواړو مونږه | نو ډوب به کړو دوئ | پس نۀ به وئ فریاد اوریدونکې |				
هم پیدا کړې دي | اوکه مونږ اوغواړو نودوئ به غرق کړو | بیا به نه څوک ددوئ فریاد آوریدو وی				
لَهُمْ	وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ۙ﴿٤٣﴾	اِلَّا	رَحْمَةً	مِّنَّا
دوئ لره | اونۀ به دوئ بچ کړې شی | مګر | دا (ټول) رحمت دې | دطرفه زمونږ نه |				
او نه به دوی خلاصولې شی | .....خودا ټوله زمونږ مهربانی ده				
وَمَتَاعًا	اِلٰى حِيْنٍ ﴿٤٤﴾			
او پریږده دوئ دپاره دنفعې اغستلو | دیو خاص وخته پورې |				
اودوئ ته تر یوې مقررې نیټې پورې فائده ورکول دی |				

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ

کشتئی اود الله تعالی قدرت:- الله تعالی د خپل قدرت یوه بله نښه ښائی چه هغه سمندر مسخر کړې دي په کوم کښې چه کشتئی برابر ځی راځی. د ټولونه اول کشتئی د حضرت نوح ﷺ وه په کومه کښې چه سواره شوی وو هغه پخپله اود هغه ملګری ایماندار بندیګان چه خلاصې ئی بیاموندلې وو باقی په مخ د زمکې یو انسان هم نه وو بچ شوې. مونږ د هغه زمانې د خلقو پلاران او نیکونه په کشتئی کښې کینولې وو چه بالکل ډکه وه ځکه چه په هغې کښې د ضرورت ټول سامان هم وو اودې سره ځناور هم وو چه د الله تعالی په حکم سره په دې کښې کینولې شوی وو. د هرقسم ځناورو یوه یوه جوړه وه ډیر باوقار مضبوط اولوئی جهاز وو. داصفت هم د حضرت نوح ﷺ په کشتئی باندې صحیح راځی. دغه شان د اوچې سورلئی هم الله تعالی د هغوی د پاره پیداکړی دی. مثلاً اوښ چه په اوچه کښې هم هغه کارورکوی ګوم چه کشتئی په اوبوکښې ورکوی دغه شان نور ځناور اوځاروی هم . اوداهم کیدې شی چه کشتئی د نوح ﷺ نمونه وه اوبیا هم په دې نمونه باندې نورې کشتئی اوجهازونه جوړیدل. د دې مطلب تائیدد دې آیت ﴿لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَآ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ﴾ (۱) نه هم کیږی یعنی کله چه اوبو چپې اوکړې مونږ ته په کشتئی کښې سور کړې دي د پاره چه دا ستاسو د پاره یونه هیریدونکې څیز جوړ کړی او یاد ساتونکی غوږونه دا یاد اوساتی. زمونږ دا احسان مه هیروه مونږ د سمندر نه ته واړولې. که مونږ غوښتې نو هم په دې کښې به مو ډوب کړې وې ټوله کشتئی به کیناسته هیڅ څوک به نه وو چه ستا فریاد به ئی اوریدلې. اونه به تاته څوک داسې ملاویدلوچه ته ئی بچ کړې وې خودا صرف هم زمونږ رحمت دې چه د اوچې اولمدې اوږده سفرونه په آرام اومزه سره کوئ اومونږ تاسو د خپل مقرر کړې شوی وخت پورې په هرقسم سره سلامت ساتو.

					وَاِذَا	قِيْلَ لَهُمُ
					او کله چې	اووئیلې شی لهم
					اوځه وخت چې دوئ ته اووئیلې شی	
اتَّقُوْا	مَا	بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ	وَمَا	خَلْفَكُمْ		
چې خان اوساتئ	دهغه انجام نه	چې په مخکښې ستاسودې	او هغه	چې مخکښې ستاسونه تیر شوې دي		
چې دهغه عذاب نه	اوویریږئ	کوم چې ستاسو نه وړاندې دي		اوکوم چې ستاسونه روستو هم		
لَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُوْنَ ۝	وَمَا تَاْتِيْهِمْ	مِّنْ اٰيَةٍ	مِّنْ اٰيٰتِ	رَبِّهِمْ	
دپاره ددې چې په تاسو رحم اوکړې شی		اونۀ راځی دوئ ته	یو آیت		دآیتونو	درب خپل نه
چې رحمت درباندې اوشی		نودوئ هیڅ پرواه نه کوی		اودوئ ته ددوئ درب دطرفه داسې نخښه نه ده راغلې		
اِلَّا كَانُوْا	عَنْهَا	مُعْرِضِيْنَ ۝	وَاِذَا	قِيْلَ لَهُمْ	اَنْفِقُوْا	
مګر وی دوئ	دهغې نه	مخ اړونکی	او کله چې	اووئیلې شی	دوئ ته	چې خرچ کړئ
چې دوئ تري مه مخ نه وی اړولې		اوهرکله چې دوئ ته اووئیلې شی		چې دهغې رزق نه خرچ کوئی		

(۱) ۶۹/الحاقه:۱۲.

Scanned with Ca

مِمَّا	رَزَقَكُمُ	اللّٰهُ	قَالَ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
دهغې رزق نه	چې درکړې دي تاسو ته	الله	نو وائي هغه کسان	چې کفر ئې کړې دي
کوم چې تاسو ته الله ﷻ درکړې دي	.....			نو کافران مسلمانانو ته
لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اَنُطْعِمُ	مَنْ	لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ
هغه کسانوته	چې ایمان ئې راوړې دي	آیا مونږ طعام ورکړو	هغه چاته	که غوښتلې الله
داسې وائي	چې آیا مونږ په هغه چا باندې خوراک اوکړو			که الله ﷻ خوښه شوې وې
اَطْعَمَهٗٓ	اِنْ اَنْتُمْ	اِلَّا	فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝	
نو طعام به ئې ورکړې ووه	هغه ته	نه یئ تاسو	مګر	په ګمراهئ ښکاره کښې
نو رزق به ئې ورکړې وو	.....	دا تاسوخو په ښکاره ګمراهئ کښې پراته یئ		

قوله تعالی:: وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا

منکرالله دهرې خبرې نه مخ اړوی: دکافرانودسرکشئ،نادانئ،اودکبرښیان شروع دي،چه هغه ته دګناهونه دبچ کیدواوئیلې شی،چه څه تاسوکړی دی په هغې باندې پیښمانه شئ،اوتوبه اوکړئ، او د مخکښې دپاره احتیاط کوئ،ددې په نتیجه کښې به الله تعالی په تاسوباندې رحم اوکړی اوتاسوبه دعذاب نه اوساتی.نوهغوی په دې باندې عمل کول خویوطرف ته،مخ راواچوی.قرآن مجیددا جمله نه ده بیان کړې څکه چه راروان آیت په دې باندې صفادلالت کوی،په دې کښې دی چه یوه داخبره څه ددوی خوا عادت شوې دې،چه دالله تعالی دهرې خبرې نه مخ اړوی.نه دهغه توحیدمنی،اونه رسولان ربښتونې منی.اونه په هغوی کښې سوچ اوفکرکولوعادت شته اونه په دوی کښې دقبولیت خاصیت اونه دګټې حاصلولوتجربه.

قوله تعالی:: وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا

کافرالله تعالی په لارکښې خرچ نه کوی:: دوی ته چه کله دالله تعالی په لارکښې دخیرات ورکولو اوئیلې شی،چه الله تاسوته څه درکړی دی په هغې کښې غریبانانو،مسکینانواومحتاجوته هم حصه ورکړئ،نودوی جواب ورکوی که دالله تعالی اراده وه نودې غریبانانوته به ئې پخپله ورکړې وه.چه کله د الله تعالی اراده نه وه نو مونږدالله تعالی دارادې خلاف ولې اوکړو؟ تاسوچه مونږته دخیرات دا نصیحت کوئ نوتاسوپه دې کښې بالکل په غلطه ینې،داهم کیدیشی چه داروستئ جمله د کافرانوپه تردیدکښې دالله تعالی دطرف نه وی.یعنی الله تعالی فرمائی چه تاسوبالکل ګمراه یئ.خوددې نه دابنه معلومیږی چه داهم دکافرانو دجواب حصه ده.والله اعلم.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى	هٰذَا الْوَعْدُ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ ۝	مَا يَنْظُرُوْنَ	اِلَّا
اووائئ دا خلق کله به وی	دا وعده	که یئ تاسو	ربښتینی	انتظار نه کوی دا خلق	مګر
او دوی وائی چې (ښه نو) داوعده ئ آخر کله پوره کیږی (چې قیامت به راځی)				که تاسو ربښتونی یئ	
صَيْحَةً وَّاحِدَةً	تَاْخُذُهُمْ	وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ۝			
د یوې چغې	چې اوبه نیسی دوئ	او حال دا چې دوئ به جګړې کوی			
درنې چغې په انتظار کښې دی	اچې راوبه نې نیسی او دوئ به لا	په خپلو جګړو کښې لګیا وی			

Scanned with Ca

فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾

پس طاقت به نۀ لری دوئ| دوصیت کولو | اونۀ به اهل خپل ته | واپس لاړ شی دوئ |

نو نه به دوصیت کولو فرصت بیا اومومئ | اونه به دکور خلقو ته واپس لاړ شی

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ

او پوکې به اووهلې شی | په صور کښې | پس یو دم به دوئ | دقبرونو نه | رب خپل ته |

اوشپیلئ به پوک وهلې شی | نودوئ ټول به دقبرونو نه دخپل رب طرفته په منډه روان شی

يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا

منډې وهی| اوبه وائی دوئ | اے افسوس دې مونږ لره | چا راپاڅولو مونږه | دخائې دخوبونو زمونږ نه

دابه وائی چې هائې زمونږ بدنصیبه | دا مونږ چا د قبرونو نه راپاڅولو ؟ | داهم هغه قیامت

هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٢﴾ إِن كَانَتْ

دا هغه څیز دې | چې وعده کړې وه رحمن ددې | او رښتیا وئیلی ووئ | رسولانو | نۀ به وی

دې |دکوم وعده چې الله ﷻ رحمان کړې وه | او پیغمبرانو واقعی رښتیا وئیلی وو| دا به نور څه نه وی

إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٥٣﴾

مګر | وی به چغه یوه | پس یودم به دوئ | ټول | مونږ ته | حاضر کړې شی |

بس یوه درنه چغه به وی | .....او زر تر زره به دوئ ټول زمونږ په مخامخ کړې شی

فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ

پس نن ورځ به | ظلم نۀ شی کیدې | په یو نفس باندې | هیڅ قدرله |اوبدله به نۀ شی درکړې تاسو له

نو نن (دقیامت په) ورځ بۀ په هیڅا هیڅ قسم ظلم نه کیږی | اوتاسو ته به دهغو عملونو

إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾

مګر دهغې | چې وئ تاسو | چې کول به مو

بدله ملاویږی | کوم چې تاسو کول |

قوله تعالی:: وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ

دقیامت منکران: کافرانوبه دقیامت راتلل نه منل،په دې وجه باندې به هغوی نبیانواومسلمانانوته وئیل چه قیامت ولې نه راولئ؟ ښه نودا اووایئ چه کله به راځی؟الله تعالی هغوی ته جواب ورکوی چه دهغې راوستلودپاره به مونږته څه تیاری نه وی کول پکاربس یوه شپیلئ په اووهلی شی.

ددنیاخلق به په خپلو کارونوکښې مشغول وی،چه الله تعالی به حضرت اسرافیل ﷺ ته دشپیلئ وهلو حکم ورکړی.هغه وخت به خلق یوخوا بل خوا غورځیدل شروع شی،په دې تیزاسمانی اوازباندې به ټول خلق په محشرکښې دالله ﷻمخکښې حاضرکړې شی،ددې چغې نه پس به چاسره دومره مهلت هم نه وی چه دچانه څه واوړی.څه وصیت یانصیحت اوکړی.اونه به بیاخپل کورواوته دتلوطاقت ورکښې وی

ددې آیت په باره کښې ډیرحدیثونه ذکرشوی دی،کوم چه مونږبل ځای لیکلی دی. ددې رومبئ نفخه نه پس به دویمه نفخه وی، دې ته نفخة البعث د والنشور وائی چه په هغې باندې به میدان حشر ته غوندې کړې شی، صرف همیشه اوسیدونکې الله تعالی به ختم نشی.دهغې نه پس به دبیاژوندی کیدو نفخه وی.

وَنُفِخَ	فِي الصُّوْرِ	فَإِذَا هُمْ	مِّنَ الْأَجْدَاثِ	إِلَىٰ رَبِّهِمْ
او پوکې به اووهلې شی	په صور کښې	پس یو دم به دوئ	دقبرونو نه	رب خپل ته
اوشپیلئ به پوک وهلې شی	نودوئ ټول به دقبرونو نه دخپل رب طرفته په منډه روان شی			
يَنسِلُونَ ۝	قَالُوا	يَا وَيْلَنَا	مَن بَعَثَنَا	مِن مَّرْقَدِنَا
منډې وهی	اوبه وائی دوئ	اے افسوس دې مونږ لره	چا راپاڅولو مونږه	دخائې دخوبونو زمونږ نه
دابه وائی چې هائې زمونږ بدنصیبه	دا مونږ چا د قبرونو نه راپاڅولو ؟	داهم هغه قیامت		
هَٰذَا مَا	وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ	وَصَدَقَ	الْمُرْسَلُونَ ۝	إِن كَانَتْ
دا هغه څیز دې	چې وعده کړې وه رحمن ددې	او رښتیا وئیلی ووئ	رسولانو	نه به وی
دې ادکوم وعده چې الله ﷻ رحمان کړې وه	او پیغمبرانو واقعی رښتیا وئیلی وو	دا به نور څه نه وی		
إِلَّا	صَيْحَةً وَاحِدَةً	فَإِذَا هُمْ	جَمِيعٌ	لَّدَيْنَا	مُحْضَرُونَ ۝
مګر	وی به چغه یوه	پس یودم به دوئ	ټول	مونږ ته	حاضر کړې شی
بس یوه درنه چغه به وی	.....او زر تر زره به دوئ ټول زمونږ په مخامخ کړې شی				
فَالْيَوْمَ	لَا تُظْلَمُ	نَفْسٌ	شَيْئًا	وَلَا تُجْزَوْنَ
پس نن ورځ به	ظلم نه شی کیدې	په یو نفس باندې	هیڅ قدرله	اوبدله به نه شی درکړې تاسو له
نو نن (دقیامت په) ورځ نه په هیڅا هیڅ قسم ظلم نه کیږی	اوتاسو ته به دهغو عملونو			
إِلَّا	مَا	كُنتُمْ	تَعْمَلُونَ ۝	
مګر دهغې	چې وئ تاسو	چې کول به مو		
بدله ملاویږی	کوم چې تاسو کول			

قوله تعالی:: وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ

ددویمې شپیلی وخت په دې ایتونوکښې ددویم نفخه ذکردې،چه په هغې باندې به مړی ژوندی شی، د (ینسلون) مصدر(نسلان) دې،اوددې معنی تیزګرځیدل دی.څنګه په بل آیت کښې دی.﴿ يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا ﴾ په کومه ورځ چه به دوی دقبرونونه راوخی اوتیزتیزبه ګرځی لکه چه هغوی څه نشان پسې روان وی.

قوله تعالی:: مِن مَّرْقَدِنَا

قبر ته مرقد دارام ځائې وئیل د قیامت د سختئ نسبت دې:: اوپه دنیاکښې به دوی دقبرونونه دپاسیدو انکار کولونودوی به دې حالت کتلوسره وائی چه هاې افسوس مونږې دخوب دخائ نه راپاسولو.ددې نه دقبردعذاب نه کیدل نه ثابتیږی،خکه چه کومې سختئ اوتکلیف به دوی اوس وینئ دهغې په نسبت

Scanned with Ca

به دقبرعذاب ډیرزیات کم وی.لکه چه هغوی هلته په ارام کښی وو.څه بزرګانوداهم فرمائیلی دی چه ددې نه بس څه وخت مخکښی هغوی په ربښتیاباندې اوده شی.حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه درومبئ نفخې اودویمې نفخې په مینځ کښی به دوی اوده شی،په دې وجه به دوی داسې وائی([1])،ددې په جواب کښی به ایماندارہ خلق وائی چه هم دادالله تعالی وعده وه اودهغه درښتونی رسول ﷺ به هم دا فرمائیل.داهم وئیلی شوی دی چه دابه فربښتې وائی،په دواړوخبروکښی داسې یوشان والې کیدې شی چه فربښتې اومومنان دواړه به دا وائی .والله اعلم.

عبدالرحمن بن زید رحمه الله فرمائی چه داټولې خبرې دکافرانودې،خوصحیح خبره هغه ده کومه چه مونږمخکښی ذکرکړه.ځنګه چه په سوره صافات کښی دی چه دوی به وائی هاې افسوس په مونږ باندې.دادجزاورځ ده.هم دادفیصلې ورځ ده،کومه به چه مونږدروغ ګڼړله اوپه آیت کښی دی:﴿وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ﴾

چه په کومه ورځ به قیامت وی ګنهګاران به قسمونه خوری چه هغوی دلږساعت دپاره پاتی شوی وو،هم دغه شان هغوی دحق نه مخ اړولې وو،هغه وخت به ایماندارہ عالمان وائی چه تاسودالله تعالی دلیکلومطابق دقیامت دورځې پورې وئ.هم دادقیامت ورځ ده خوتاسوپې علمه یئ.تاسوخودانه کیدونکې ګنړله.اوداپه مونږباندې بالکل اسانه ده،دیواوازانتظاردې چه ټول مخلوق به زمونږمخکښی وی.ځنګه چه په بل ایت کښی دی چه دویناسره به هغوی په میدان کښی جمع شی.

اوپه ایت کښی فرمائیلی دی چه دقیامت راتلل خودسترګې خوزولونه هم زیات نزدې دی. اوفرمائیلی دی.﴿ يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ ﴾ په کومه ورځ چه به هغه تاسوراوغواړی،او تاسوبه دهغه تعریف کولوسره ورته جواب ورکړئ،اوتاسوبه یقین اوکړئ چه تاسودیرلږوخت پاتې شوې یئ.یعنی دحکم سره به تاسوټول حاضرشئ،هغه ورځ به دچایوعمل هم نشی پټیدې،هریوته به دخپل عمل بدله ورکړې شی.

اِنَّ	اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ	الْيَوْمَ			
بیشکه	ملګری دجنت	نن ورځ			
بیشکه جنتیان به په دغه ورځ په خپلو مشغلو کښې					
فِيْ شُغُلٍ	فٰكِهُوْنَ ۚ	هُمْ	وَاَزْوَاجُهُمْ	فِيْ ظِلٰلٍ	
په مشغولتیا کښی	مزې اغستونکی دی	هغوئ	او ښځی دهغوئ	په سورو کښی	
مشغول وی	.....دوئ او ددوئ بیبیانې به د (ونود) سیورو لاندې وی				
عَلَى الْاَرَآئِكِ	مُتَّكِـُٔوْنَ	لَهُمْ	فِيْهَا	فَاكِهَةٌ	وَّلَهُمْ
په تختونو باندې	تکیه وهونکی دی	دی دپاره دهغوئ	په هغې کښی	میوې	اودی دپاره دهغوئ
په تختونوباندې تکیه لګولې ناست به وی		دوئ ته به میوې ورکولې شی		او چې څه غواړی	
مَّا	يَدَّعُوْنَ ۚ	سَلٰمٌ قف	قَوْلًا	مِّنْ رَّبٍّ	رَّحِيْمٍ
هغه څیزونه	چې هغوئ ئې غواړی	سلام دې	وینا	دطرفه درب	مهربان نه
نوهغه بڼه ورته ملاویږی	.....دمهربانه رب دطرفنه به پرې سلامونه وئیلې شی				

[1]) الطبری :۲۰/۵۳۲.

قوله تعالی:: اِنَّ اَصۡحٰبَ الۡجَنَّةِ

په جنتیانوباندې انعامونه جنتیان خلق به دقیامت دمیدان فارغیدونه پس اکرام اوتعظیم سره جنتونوته اورسولې شی،اودهغه ځائې په نعمتونواوراحتونوکښې داسې مشغول شی چه بل طرف ته به ئی نه څه خیال کیږی اونه زړه.دوی به ددوزخ اودوزخیانونه بې فکره وی.په خپلومزواولذتونوکښې به دوی داسې خوشحاله وی چه دهریوځیزنه بې خبره شی.ډیر تروتازه به وی.دوی ته به ناواده کړې حورې ملاؤوی،دوی سره به په دې مزواوخوندونوکښې دهغوی ښځې اوحورې هم شاملې وی،دجنتی میوو والا ونوپه سوروکښې به دوی نرموتختونو باندې په بې غمئ اوبې فکرئ سره دالله تعالی دمهمانداری نه خوندونه اخلی.هرقسمه میوې به دوی ته موجودوی،اودکوم څیزخواهش چه وی الله تعالی به ئی پوره کوی.

دجنت تعریف او دهغه خواهش:: دابن ماجه کتاب سنن اوپه ابن ابی حاتم کښې دی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه په تاسو کښې څوك هغه جنت ته دتلوخواهش اوتیاری کولووالااوتیزی خودلو والا شته؟ چه په هغې کښې څه ویره نشته، د کعبې په رب مې دې قسم وی،هغه ټول نوردې،دهغې تازګئ بې شماره دی،دهغې شین والې خوزیږی ،د هغې کورونه مضبوط اواوچت دی،دهغې نهرونه ډك اوروان دی.دهغې میوې ذائقې والا،پخ شوې اوډیرې دی.په هغې کښې خائسته پیغلې حورې دی، د هغوی لباس ریښمی اوقیمتی دې،دهغې نعمتونه همیشه اوبې مثاله دی.هغه دسلامتیا کوردې،هغه دشنواوتازه میووباغ دې،دهغې نعمتونه زیات اوخائسته دی.اودهغې محلونه اوچت اوخائسته دی.دې اوریدلوسره چه څومره صحابه رضوان الله تعالی اجمعین وو،ټولواووئیل حضورﷺ مونږدې دپاره تیارياني اوددې حاصلولودپاره کوشش کونکی یو.حضورﷺ اوفرمائیل انشاء الله اووایئ،نوهغوی ټولواووئیل انشاءالله.(۱)

قوله تعالی:: سَلٰمٌ ۢ قَوۡلًا مِّنۡ رَّبٍّ رَّحِيۡمٍ ۝

جنت کښې به د هر طرفنه سلام وی و رب به پرې هم سلام کوی:: دالله تعالی دطرف نه په هغوی باندې سلام دې، پخپله الله تعالی هم دجنتایودپاره سلام دې.څنګه چه فرمائیلی دی.﴿ تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهٗ سَلٰمٌ ۚ﴾ په کومه ورځ چه به هغوی الله تعالی سره ملاویږی دهغوی تحفه به سلام وی.رسول اللهﷺ فرمائی،جنتان به په خپلونعمتونوکښې مشغول وی،چه دبره طرف نه به یونوراوپرقیږی،دوی به خپل سرونه اوچت کړی نودالله تعالی ددیدارشرف به ورته حاصل شی،اورب به اوفرمائی."السلام علیکم یا أهل الجنة" یعنی ددې ایت معنی ده.(سلام قولا) چه جنتیان به خاص طورباندې الله تعالی وینی اوالله تعالی به هغوی وینی.دیونعمت طرف ته به هم هغوی نه ګوری تردې چه د دوی مخونوته به پرده راشی.اونوراوبرکت به دهغوی سره پاتې شی.داحدیث په ابن ابی حاتم کښې دې خوسندئی کمزورې دې.په ابن ماجه کښې هم په کتاب السنة کښې داروایت موجوددې.(۲)

حضرت عمربن عبدالعزیزرحمه الله فرمانی چه الله تعالی کله ددوزخیانواوجنتیانونه فارغ شی، نو دا وریځ په سوری کښې به متوجه شی،فربښتې به دهغه سره وی،جنتیانوته به سلام اوکړی اوجنتیان به جواب ورکړی.

جنتیانو سره دالله تعالی کلام:: قرظیرحمه الله فرمانی دادالله تعالی په فرمان (سلام قولا)کښې موجوددی.هغه وخت به الله تعالی فرمائی چه زمانه څه غواړې هغه اوغواړئ.دوی به وائی پروردګار!هرڅه موجود دی،

---

(۱) ابن ماجه کتاب الزهد باب صفة الجنة: ۴۲۳۲،

(۲) ابن ماجه المقدمه باب فیما انکرت الجهمیة :۱۸۴، الشریعة للاجری:۶۱۶، صفة لابی نعیم:۸۸.

Scanned with Ca

څه اوغواړو؟ الله تعالی به فرمائی اوتهیک ده،بیاهم که څه موپه زړه کښی راځی،اوغواړئ.دوی به وائی بس دستارضاپکارده.الله تعالی به اوفرمائی هغه ماتاسوته درکړې ده،اوپه دغه وجه تاسوزماپه دې مهمان خانه کښی یئ.اوماتاسوددې مالکان کړی یئ.جنتیان به وائی نوالله بیامونږدستانه څه اوغواړو؟ تا مونږ ته دومره څه راکړی دی،چه ته حکم اوکړې نوپه مونږکښی یوکس دټولو انسانانو او پیریانو دعوت کولې شی.اوهغوی ته په مړه خیټه خوراک ورکولې شی اوهغوی ته جامې اچولې شی.بلکه دهغوی ټولوضرورتونه پوره کولې شی اوبیابه هم دهغوی په ملکیت کښی څه کمې رانشی.الله به اوفرمائی ماسره نورهم شته،نوفرښتې به دالله دطرف نه نوې نوې تحفې راوړی.امام ابن جریر رحمه الله دا روایت په ډیرومسندونوکښی راوستې دې.خودا روایت ډیرغریب دې.والله اعلم.( )

وَامْتَازُوا	الْيَوْمَ	أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾	أَلَمْ أَعْهَدْ	إِلَيْكُمْ
او جدا شئ	نن ورځ	اے مجرمانو	آیا حکم نۀ ووکړې ما	تاسو ته
(اومجرمانو ته به وئیلې شی)چې ائې مجرمانو! تاسو(ددوئ نه) جدا شئ				ائې د آدم اولاده!

يَا بَنِي آدَمَ	أَنْ لَا تَعْبُدُوا	الشَّيْطَانَ ۖ	إِنَّهُ	لَكُمْ	عَدُوٌّ
اے اولاد دادم	چې بندګی مۀ کوئ	دشیطان	بیشکه هغه	ستاسو دپاره	دشمن
ایا ماتاسو نه ددې خبرې وعده نه وه اخستې		چې دشیطان عبادت مه کوئی ؟		هغه ستاسو ښکاره	

مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾	وَأَنِ اعْبُدُونِي ۚ	هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾	وَلَقَدْ أَضَلَّ
ښکاره دې	او چې بندګی کوئ زما	دا لاره نیغه ده	اوپه تحقیق بې لارې کړل هغه
دښمن دې	اودا چې صرف زما عبادت کوئی	هم دانیغه لاره ده	.....او هغه په تاسو

مِنكُمْ	جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ	أَفَلَمْ تَكُونُوا	تَعْقِلُونَ ﴿٦٢﴾
ستاسو نه	خلق ډیر	آیا نۀ یئ تاسو	چې دعقل نه کار واخلئ
کښې ډیر خلق ګمراه کړی دی	..... نوآیا تاسو نه پوهیږئ		

قوله تعالی:: وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾

قیامت کښې به مجرم او غیر مجرم جداجدا شی: فرمائی چه نیک خلق به دبدکارونه چهانړکړې شی، کافرانو ته به اووئیلی شی چه دمومنانونه لرې شئ،بیابه مونږپه دوی کښی فرق اوکړو،هغوی به بیل بیل کړو. هم دغه شان په سوره روم کښی دی.﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴿١٤﴾ ﴾ په کومه ورځ چه به قیامت وی په هغه ورځ به ټول جداجداکړې شی.یعنی دهغوی به دوه ډلې جوړې کړې شی.په سوره الصافات کښی فرمان دې چه ﴿ احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ ﴾ یعنی ظالمان اودهغوی په شان اودهغوی ددروغ معبودان چاته چه به هغوی سجدې کولې،اوهغوی ته ددوزخ لاراوښایئ،په جنتیانوبه چه څه رنګه انعامونه وی هم دغه شان به په دوزخیانوباندې سختیانې وی.هغوی ته به په وینا کښی وئیلې کیږی چه دستاسونه وعده نه وه اخستلې شوې چه دشیطان مه منئ هغه دستاسو دښمن دې.خوددې نه پس هم تاسو زما رحمن نافرمانی اوکړه،اودشیطان خبره مواومنله. خالق، مالک،او رازق زه اوفرمانبرداری دې زما ددربارنه د شړلی شوی اوکړې شی.ماخوونیلی ووچه هم زمااومنئ اوماته سجدې اوکړئ. اوماته درارسیدو لاره سیده اونزدې ده،خوتاسوالته لاړئ،دلته به هم الته ځئ،اودنیک بختواوستاسولاړې

---

[1]) الطبری: ۲۰/۵٤۱.

Scanned with Ca

جداجدا دی، دوی جنتیان دی اوتاسودوزخیان یئ.

(جبلا)نه مطلب زیات خلق دی،په لغت کښی (جبل)هم وئیلې شی،اوجبل هم وئیلې شی.شیطان تاسو کښی ډیرخلق دهوکه کړل اودصحیح لارنه ئی کوزکړل اوپه تاسوکښی دومره عقل هم نه وو،چه تاسو فیصله کړې وې چه درحمن اومتواوکه دشیطان،الله تعالی ته سجده اوکړواوکه مخلوق ته!

قوله تعالی:: اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ

جهنم به هم داسې اعلان اوکړي:: ابن جریرکښی دی چه دقیامت په ورځ دالله په حکم به دوزخ خپل څټ راوچت کړی چه په هغې کښی به سخته تیاره وی اوبالکل ښکاره به وی.هغه به وائی چه ای انسانانواوتاسونه الله تعالی وعده نه وه اخستلې،چه تاسودشیطان عبادت مه کوئ؟هغه ستاسوښکاره دښمن دې،اوزماعبادت کوئ داسیده لارده.هغه په تاسوکښی اکثرګمراه کړل.تاسونه پوهیدئ؟ای ګنهګارانواتاسونن جداشئ،هغه وخت به نیك اوبدخلق جداشی،هریوبه راپریوځی.هریوبه دهغه عمل نامې طرف ته رااوبللې شی.نن به هم هغه بدله اومومئ کومه چه به موکوله.(۱)

هٰذِهٖ جَهَنَّمُ				
دا دوزخ دې				
داهغه دوزخ دې چې				
الَّتِيْ	كُنْتُمْ	تُوْعَدُوْنَ ﴿٦٣﴾	اِصْلَوْهَا	الْيَوْمَ
هغه	چې وئ تاسو	چې وعده به ئې درسره کولې شوه	ننوزئ دې ته	اوسوزئ	نن ورځ
تاسوسره به ئې وعده کولې شوه	دهغه کفر او انکار په بدله کښې چې تاسوسره به کولې شوه نن دې ته			
بِمَا	كُنْتُمْ	تَكْفُرُوْنَ ﴿٦٤﴾	اَلْيَوْمَ	نَخْتِمُ	عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ
په سبب دهغې چې وئ تاسو	چې کفر به مو کولو	نن ورځ	مهراوهو مونږه	په خلو ددوئ باندې	
ورننوځئ	.....	نن به مونږ ددوئ په خلو باندې مهر اولګوؤ			
وَتُكَلِّمُنَآ	اَيْدِيْهِمْ	وَتَشْهَدُ	اَرْجُلُهُمْ	بِمَا
او خبری به کوی زمونږ سره	لاسونه ددوئ	او ګواهی به کوی	خپې ددوئ	په هغه کارونو
اوددوئ لاسونه به مونږ سره خبرې کوی	اوددوئ پښې به ددوئ په عملونو باندې			
كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ ﴿٦٥﴾	وَلَوْ نَشَآءُ	لَطَمَسْنَا
چې وؤ دوئ	چې کول به ئې	او که اوغواړو مونږه	نو خامخا بندې به کړو مونږه
ګواهی ورکوی	.....	اوکه چرې مونږ غوښتلې نو ددوئ سترګې به مو	
عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ	فَاسْتَبَقُوا	الصِّرَاطَ	فَاَنّٰى	يُبْصِرُوْنَ ﴿٦٦﴾
سترګې ددوئ	بیا به ددوئ راوړاند شی	لارې ته	پس څرنګې به	لیدل کوی دوئ
رندې کړې وې	نولارې طرفته به ئې منډې وهلې	.....	خو لیدل به ئې څنګه کولې شو	

(۱) الطبری: ۵٤۲/۲۰،

وَلَوْ نَشَآءُ	لَمَسَخْنٰهُمْ	عَلٰى مَكَانَتِهِمْ	فَمَا اسْتَطَاعُوْا
اوکه اوغواړو مونږ	انوخامخا به مسخ کړو مونږ دوئ	اپه خپل ځایونو ددوئ	باندې	اپس طاقت به نه لري دوئ
اوکه مونږ غوښتلې	نو په دغه خپل به موددوئ شکلونه مسخ کړی وو	نو بیا به نه

مُضِيًّا	وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ۝
دوړاندې تلو	اونه به واپس کیدې شی
وړاندې تلې شول	اونه به روستو راګرزیدې شول

قوله تعالی:: هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝

دمجرمانوخولې به بندکړئ شی: دوزخ نه به شغلې اوخی،چغې به وهی اوغصې سره مخې ته راشی، او کافرانو ته به اوونیلې شی چه داهغه دوزخ دې چه دکوم ذکربه زمارسول کوو.ددې نه به نې تاسو ویرولې،اوتاسویه تړې انکارکولو.نواوس دخپل کفرمزه واخلئ،پاسئ دې ته ورکوزشئ،نوپه ایت کښې دې **یوم یدعون** په کومه ورځ چه به دوی دوزخ ته وراوغورخولې شی اوبه ونیلې شی هم داهغه دوزخ دې دکومې نه به چه تاسوانکارکولو،اووایئ داجادوکه تاسوړانده شوئ؟ دقیامت په ورځ باندې به چه داکافران یامنافقان دخپلوګناهونونه انکارکوی،اوقسمونه به خوری نوالله تعالی به ددوی خولې بندکړی اوددوی دبدن اعضاء به رښتونې ګواهی ورکول شروع کړی.

قوله تعالی:: وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ

قیامت کښې الله ﷻ سره د انسان جګړه او د اندامونو ګواهی:: حضرت انس ﷺ فرمائی چه مونږدرسول الله ﷺ سره وو،نوحضور ﷺ یوناڅاپه داسې په خنداشوچه ورئ ئی ښکاره شوې،بیائی زمونږنه تپوس اوکړوچه تاسوته پته ده زه ولې په خنداشوم؟مونږاوونیل دالله رسول ته ښه پته ده وئی فرمائیل چه بنده به دخپل رب سره دقیامت په ورځ جګړه کوی،هغه ته به وائی چه الله تعالی تازه دظلم نه نه ووم بچ کړې؟الله تعالی به فرمائی او، نوبیابه دې وائی چه زه به دخان خلاف دګواه ګواهی نه منم.اوزمابدن زما خپل دې،نورټول خلق زمادښمنان دی.الله تعالی به فرمائی هم دغه شان صحیح ده.ته په خپله ګواه شه، او زما برزګانې فرښتې دې ګواه نه وی.نوهغه وخت به په ژبه باندې مُهراولږی،اودبدن اعضاء ته به اوونیلی شی،وایئ:ته خپله ګواهی ورکړه چه تانه دې څه څه کارونه اخستلی دی؟هغه به هره یوه خبره صفاصفااورښتیارښتیااووائی.بیابه دهغه ژبه ازاده کړې شی نودې به دبدن جوړونواواعضاء ته اووائی چه تاسوغرق شئ،هم تاسوزمادښمنان شوئ، ماخو ستاسو د بچ کولوکوشش کوو، او د ستاسو د فائدې دپاره مې بحث کولو.(نسائی وغیره) (۱)دنسائی په یو بل حدیث کښې دی چه ته به دالله تعالی مخکښې رااوغوښتې شې.اوژبه به دې بندوی.د ټولونه مخکښې به دپنډواولاسونونه تپوس اوکړې شی،(۲)دقیامت په باره کښې یولوې حدیث دې چه په دریم ځل به بیادوی ته اووئیلی شی،چه تاسوڅه کړی دی؟دوی به وائی چه دستابنده یم، تا باندې،ستاپه نبی ﷺ باندې،ستاپه کتاب مې ایمان راوړلې وو،دروژې،مونځ،زکوة وغیره پابند ووم. نورې به هم نیکیانې بیان کړی.هغه وخت به ده ته اوونیلی شی چه صبراوکړه مونږګواه راغواړو.دې به سوچ کوی چه څوک به په ګواهئ کښې پیش کوی.یوناڅاپه به دهغه خوله بندکړې شی،اودهغه پنډئ ته به اوونیلې شی چه ته ګواهی ورکړه.اوس به پنډئ هډوکی

---

۱) صحیح مسلم کتاب الزهد باب الدنیا سجن للمومن وجنة للکافر : ۲۹۶۹، السنن الکبری للنسائی :۱۶۵۳.
۲) السنن الکبری :۱۴۶۹، احمد:۵/۵. وسنده حسن شعب الایمان :۹۰۵۸.

Scanned with Ca

او غوښه خبرې کول شروع کړي اودهغه منافق دنفاق باره کښې اودهغه پټې خبرې به ښکاره کړي. داهرڅه به ددې دپاره وي چه بياپکښې څه بحث پاتې نشي.اودهغه عذرختم شي.الله تعالى دهغه نه به خفه وي په دې وجه باندې دومره سختئ سره تري تپوس اوشي.(ابوداود)([1])

قيامت کښې به مؤمن د ګناهونو اعتراف کوي او کافران به انکار کوي::په يوبل حديث کښې دي چه په خوله باندې مهرلږيدونه پس به دټولونه مخکښې دانسان ښې پنډې خبرې کول شروع کړي([2]).حضرت ابوموسى اشعرې رضي الله عنه فرمائي چه دقيامت په ورځ به الله تعالى مومنان رااوغواړي اود هغوى ګناهونه به دهغوى مخکښې پيش کړي،اوبه فرمائي داڅهيك دي؟دوى به اووائي او الله بې شکه داټول صحيح دي اومانه داغلطياني شوي دي.الله تعالى به اوفرمائي ښه،ماټولې معاف کړې.خوداخبرې به داسې وي چه چاته به-هم ددې باره کښې معلومات نه وي.دهغه يوه ګناه به هم په مخلوق کښې چاته معلومه نشي.اوس به دهغه نيکيانې راوړې شي اوهغه به ټول مخلوق ته اوخودلې شي.

کافران اومنافقان به رااوغوښتلې شي،دهغوى بدعملونه به دهغوى مخکښې کيخودلې شي،اوهغوى ته به اووئيلى شي وايئ داڅهيك دي،دوى په صفاانکاراوکړي اوقسمونه به خورى اې الله د ستا فرښتو غلط ليکل کړي دي،ماداګناهونه بالکل نه دي کړې،فرښته به وائي داڅه وائي؟فلانکى خانې کښې تا دا فلانکې کارنه ووکړې؟دې به وائي الله‌دستاپه عزت مې قسم چه دادروغ دي ماداباالکل نه دي کړې.اوس به الله دهغه ژبه بندکړي،دټولونه مخکښې به دهغه ښې پنډې ګواهي ورکړي.هم دامضمون په دې ايت کښې بيانيږي.بيافرمائي که مونږغوښتل نوهغوى به موګمراه کړې وې،اودوى ته به بياچرې هم هدايت نه وومالاوشوې،که مونږغوښتلې ددوى سترګې به مورندې کړې وې،نودوى به هم دغه شان ګرځيدل.اخوا ديخوا به ګرځيدل اوربښتونې لاربه ورته نه وه معلومه.اوکه مونږغوښتل نودوى به موپخپل کورونوکښې ختم کړې وې.ددوى شکلونه به موبدل کړى وو،دوى به موهلاك کړې وو،ددوى خپې به موماتې کړې وې،بيابه دوى ګرځيدې نه شول.يعنى نه به مخکښې تلې شول اونه به روستوراتلې شول.اودبت په شان به يوځائې ناست وو.مخکښې روستوبه نه شوتلې.

وَمَنْ	نُّعَمِّرْهُ			
او هغه څوك | چې اوږد عمر ورکوؤ مونږ هغه ته				
| اومونږ چې دچا عمر زيات کړو				
نُنَكِّسْهُ	فِي الْخَلْقِ ط	اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٨﴾	وَمَا عَلَّمْنٰهُ	
نوالتها کووه مونږ هغه لره | په جوړښت کښې | ايا پس دوئ نه کوى عقل | اونۀ دې ښودلې مونږ دۀ ته				
نو (دعمر په لحاظ سره) راتيټ ئې کړو | نوايا دوئ نه پوهيږى | او مونږ دې پيغمبر ته نه شاعرى خودلې ده				
الشِّعْرَ	وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ط	اِنْ هُوَ	اِلَّا	ذِكْرٌ
شعر |	اونۀ ښائى دۀ لره |	نۀ دې دا |	مګر | يو نصيحت دې |	
اونه ددۀ شان سره مناسب ده | دا کلام خو (يوزبردست نصيحت) اوروښانه قران دې				

وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿٦٩﴾

او قران دې واضحه \|

[1]) صحيح مسلم كتاب الزهد باب الدنيا سجن للمومن وجنة للكافر:٢٩٦٨. ابن حبان:٤٧٢٦.

[2]) احمد:٤/١٥١،

لِّيُنذِرَ	مَن	كَانَ	حَيًّا	وَيَحِقَّ	الْقَوْلُ
دپاره ددې چې اویروی	هغه څوک	چې وی	ژوندی	اوثابته شی	اخبره (دعذاب)
چې هغه کسان ویروی	دچا	زړونه چې ژوندی دی	او چې په کافرانو باندې حجت		
عَلَى الْكَافِرِينَ ۝					
په کافرانو	باندې				
پوره شی					

قوله تعالی:: وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ؕ

ځوانئ اوبوډه والئ: دانسان ځوانی چه رورووختمیږی،پیری،ضعیفی اوکمزوری پرې راځی.ځنګه چه په سوره روم کښی دی اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ الله تعالی هغه دې چه هغه تاسو دکمزورئ په حالت کښی پیدا کړې، بیائې دکمزورئ نه پس طاقت درکړو ،بیاې دطاقت نه پس بوډاوالې اوکمزورې درکړه. هغه چه څه غواړی پیداکړی اوهغه ته دهرڅه پته ده اوقدرت والادې.

په دې ایت کښی دی چه په تاسوکښی څه ته زیات عمرورکړې شی چه دعلم نه پس هغوی بې علمه شی.نوددې ایت مطلب دادې چه دنیادختمیدواومړکیدوځائی دې،دا د ارام ځائې نه دې.بیاهم داخلق عقل نه لری،چه په خپل ماشوموالی،بیاځوانئ اوبیاپه بوډاوالی غوراوکړی.اونتیجه اوباسی چه ددې دنیانه پس اخرت راروان دې،اوددې دنیادژوندنه پس به بل ژوندکښی بیاپیداکیدل وی.بیانی اوفرمائیل چه نه خومونږخپل پیغمبرته شاعری خودلې ده،نه شاعری دهغه شان سره ښائی،نه ئی د شعرونو سره دهغه مینه اونه ې دشعرونوسره طبیعت لګی،ددې ثبوت دحضورﷺ په ژوندکښی ډیر واضحه ملاویږی چه حضورﷺ به دچاشعرونه وئیل نوصحیح به ئی نه شووئیلې پوره به ورته نه ووياد. حضرت شعبیؒ فرمائی چه دعبدالمطلب په اولادکښی هرکس شعرونه وئیلی شوخوحضورﷺ شعرونه بالکل نه شووئیلې.(ابن عساکر)

یوځل حضورﷺ داشعراووئیلو "**کفی بالاسلام والشیب للمرء ناهیا**"، په دې حضرت ابوبکرصدیقؓ اوفرمائیل ،حضورﷺداداسې نه دې،بلکه داسې دې."**کفی الشیب والاسلام للمرء ناهیا**"، بیاهم حضرت ابوبکرؓیاحضرت عمرؓ اوفرمائیل.تاسوپه ربښتیاالله تعالی رسول یې.الله تعالی صحیح فرمائیلی دی.﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ؕ﴾ (ابی حاتم)([1])

په دلائل النبوة للبیهقی کښی دی چه حضورﷺ یوځل عباس ابن مرداس سلمیؓ ته اوفرمائیل تا دا شعروئیلې دي.

"**اتجعل نهبی ونهب العبید بین الاقرع وعیینه**"، هغه اووئیل حضورداپه اصل کښی داسې دې."**بین عیینة والاقرع**" حضورﷺ اوفرمائیل بس ټول برابردی،مطلب کښی فرق نه راځی."**صلوات الله وسلامة علیه**"، سهیلیؒ په روض الانف کښی ددې تقدیم تاخیر یوه عجیبه وجه بیان کړې ده،هغه وانی حضورﷺ "**اقرع**" مخکښی او"**عیینه**" روستوځکه بیان کړه چه "**عیینه**" دصدیقؓ په خلافت کښی مرتدشوې وو،اواقرع ثابت قدم وو،([2])والله اعلم.

---

[1]) الطبقات:۱/۳۸۲،

[2]) الدلائل : ۵/۱۷۹،.

Scanned with Ca

مغازی اموی کښی دی چه دبدرپه قتل کړې شوې کافرانوکښی حضورﷺ دګشت په وخت کښی دژبې نه دااوتل،"نفلق هاما"، نورځه ئی اونه وئیلې شو.په دې باندې جناب ابوبکرصدیقؓ پوره شعراوفرمائیلو.

من رجال اعزة علینا وهم کانواعق واظلما(۱)

دا د چاعربی شاعرشعردې چه په حماسه کښی موجوددې.په مسنداحمدکښی دی چه رسول اللهﷺ به کله کله دطرفه شعروئیلو."ویاتیك بالاخبارمن لم تزود،(۲)،ددې رومبې مصرعه داده ."ستبدی لك الایام ماکنت جاهلا"یعنی زمانه به تاته هغه څه اوښائی چه دهغې نه ته بې خبره وې،اوتاته به داسې کس خبرونه راوړی چه هغه ته تاتوښه نه ده ورکړې.دحضرت عائشه رضی اللہ عنہا نه چاتپوس اوکړوچه حضورﷺ به شعرونه وئیل ؟هغې ورته اووئیل چه دټولونه ناخوښه دحضورﷺ شعرونه وو.اوکله کله به ئی دبنوقیس والاځه شعراووئیلو.خوپه هغې به ئی هم غلطی کوله. حضرت ابوبکرؓ به فرمائیل حضوراداسې بلکه داسې،نوحضورﷺ به اوفرمائیل زه څه شاعرنه یم اونه شعرماسره ښائی.(ابن ابی حاتم) (۳)

په بل روایت کښی دشعردمخکښی روستووئیلوذکردی.یعنی **ویاتیک بالاخبارمن لم تزود** ،، حضورﷺ داسې **من لم تزودبالاخبار**،،وئیلې وو.بیهقی کښې روایت دې چه حضورﷺ پوره شعرکله هم نه دې وئیلې،زیات نه زیات یوه مصرعه به ئې اووئیله.(۴) په صحیح حدیث کښی دی چه حضورﷺ دخندق کنستلوپه وخت کښی دحضرت عبدالله بن رواحهؓ شعرونه وئیلی وو.خودایادساتل پکاردی چه داوئیل صرف دصحابه کرامؓ سره وو.هغه اشعار دادی .

لاهم لولاانت مااهتدینا ولاتصدقنا ولاصلینا
فانزلن سکینة علینا وثبت الاقدام ان لاقینا
ان الاولی قدبغوعلینا اذاارادوفتنة ابینا

نبی علیه السلام به دالفظ رابنکلې وئیلې اودې سره سره به ئې په اوچت آواز وئیلې.(۵)
ددې شعرونه ترجمه داده.
هیڅ غم نشته که ته نه وې نومونږته به هدایت نه وو شوې،نه به موصدقه ورکولهٔ اونه به مومونخونه کول.اوس خوپه مونږباندې سکون نازل کړه.اوچه کله ددښمنانانوسره جهګړه شروع شی نومونږثابت قدم اوساته.هم داخلق په مونږباندې سرکشی کوی،اوچه دوی کله دځه فتنې اراده اوکړی نومونږ انکار کوو. هم دغه شان ثابت یوځنګه چه حضورﷺ دحنین په ورځ باندې دښمنانوطرف ته خپله خچروراندې کولو وخت کښی فرمائیلې وو.

انا النبی لاکذب انا ابن عبدالمطلب(۶)

ددې باره کښی دایادساتل پکاردی چه اتفاقایوکلام دحضورﷺ دژبې مبارکې نه اداشوچه هغه دشعرپه وزن باندې پوره وو،حضورﷺ داپه قصددشعرپه شان نه ووویئیلې.
حضرت جندب بن عبدالله فرمائی چه مونږدرسول اللهﷺ سره په یوغارکښی وو،چه دحضورﷺ ګوته مبارکه زخمی شوه.نوحضورﷺ اوفرمائیل.

هل انت الا اصبع دمیت وفی سبیل الله مالقیت

---

۱) حافظ ابن کثیر دا روایت دتفسیر له علاوه السیرة النبویة :۴۴۹/۲ ،البدایة والنهایة:۳۵۷/۳ کښې بلاسند ذکر کړېدې.
۲) احمد:۳۱/۶، السنن الکبری: ۱۰۸۳۳،.
۳) الطبری : ۵۴۹/۲۰.
۴) بیهقی : ۴۳/۷،.
۵)صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة الخندق: ۴۱۰۴، صحیح مسلم: ۱۸۰۳، احمد:۲۸۲۱۴. السنن الکبری: ۱۰۳۶۷.
۶)صحیح بخاری کتاب المغازی :۲۵۱۱، باب قول الله تعالی(ویوم حنین اذ اعجبتکم کثرتکم)) :۴۳۱۵.

Scanned with Ca

یعنی ته خویوه ګوته ې چه دالله په لارکښی زخمی شوې اوهغه په اتفاق سره قصدانه(۱).هم دغه شان دیوحدیث "الاللهم" په تفسیرکښی به راځی چه حضورﷺ فرمائیلی دی.

ان تغفراللهم تغفرجما واي عبدلك لاالما

یعنی اې الله چه ته کله معاف کوې نوزمونږټول ګناهونه معاف کړه،ګنی داسې خودستایوینده هم نشته چه هغه دوږوروګناهونه پاك وی.نوداټول ددې ایت خلاف دی،ځکه چه دالله تعالی تعلیم حضورﷺ ته شعرونیلونه وو،بلکه الله تعالی خوحضورﷺ ته دقران کریم تعلیم ورکړو،چه دهغې خواه ته باطل نشی ورتلې.دقران کریم داپاك نظم دشاعرئ نه په میلونولرې وو،هم دغه شان دد کهانت نه اودخان نه وئیلې شوو،اودجادودخبرونه هم،ځنګه چه به داکافرانومختلف خلقومختلف خبرې کولې.دحضورﷺ طبیعت خود دې صناعتونو نه معصوم وو،په ابوداؤدکښی دی چه حضورﷺ فرمائیلی دی زمادپاره دادرې خبرې برابردی،تریاق څکل،تعویذاچول،اوشعرونیل،(۲)حضرت صدیقه رضی الله عنها فرمانی چه شعرونیلونه دحضورﷺ نفرت وو(۳)،په دعاکښی به ې مکمل الفاظ خوښ وو،اوددې نه سوابه ې پریخودل(۴).(احمد) ابوداؤدکښی دی چه دچاخیټه دپیپ نه ډکیدل دهغه پاره دشعرونودډکیدونه ښی دی. (۵) (ابوداؤد) دمسنداحمد په یوغریب حدیث کښی دی،"چه چادماسخوتن دمونځ نه دشعریوه مصرعه هم جوړه کړه دهغه دشپې ټول مونځ ناقبوله شو(۶)."دایادساتل پکاردی چه دشعرونیلودپرقسمونه دی، د مشرکانو خلاف شروع وئیل په شریعت کښی شته.حضرت کعب بن مالك،حضرت عبدالله بن رواحه وغیره په شان لویوصحابه کرامو دکافرانوخلاف شعرونه وئیلې دی.

څه شعرونه دنصیحت،ادب اوحکمت دپاره وی،لکه دجاهلیت دوخت دځه شاعرانوپه کلام کښی داسې شعرونه شته،دامیه بن صلت دشعرونوباره کښی دحضورﷺ فرمان دې،چه دهغه شعرونو خوایمان راوړې دې،خودهغه زړه کافردی.(۷)یوصحابی حضورﷺ ته امیه سل شعرونه اووئیل، دهر شعرنه پس به حضورﷺ فرمائیل نوروایه (۸).په ابوداؤدکښی دحضورﷺ ارشاددې،چه څه بیانونه د جادو په شان وی،اوځه شعرونه بالکل حکمت وی(۹).نوفرمائیلی دی چه څه مونږهغوی ته اوخودل هغه ذکر او نصیحت اوواضح اوصفاقران دې.که یوکس لږشان هم غوراوکړی نوهغه ته به دانښکاره شی چه دزمکې دپاسه څومره خلق دی دابه هغوی ټولوته خبراوویره ورکړی.ځنګه چه ارشادفرمانیلې دې.﴿ لِّأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ﴾ چه مونږتاسوپه دې سره ویروو او چه دااورسی.اوپه آیت کښی دی.﴿وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ﴾ یعنی په په دې ټولوکښی چه څوك هم دانه منی هغه ته سزااودوزخ دې،اوددې قران اوحضورﷺ د فرمان نه هغه کس اثراخلی چه دهغه زړه ژوندې اوصفاوی،عقل اونظرلری اودعذاب قول خوپه کافرانو باندې سخت دې.نوقران په مومنانوباندې رحمت اوکافرانوباندې سخت دې.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الادب باب مایجوز من الشعر والرجز والحداء وما یکره منه:۶۱۴۶، صحیح مسلم: ۱۷۹۶. ترمذی: ۳۳۴۵.

(۲) ابوداود کتاب الطب باب فی التریاق : ۷۷۶، مسندابی یعلی :۱۵۳۳، ، بیهقی: ۹/۳۵۵.

(۳) احمد:۶/۱۳۴، وسنده صحیح.

(۴) ابوداود کتاب الوتر باب الدعاء :۱۴۷۲، وسنده صحیح احمد:۶/۱۸۹. ابن حبان:۸۶۴.

(۵) ابوداود کتاب الادب باب ماجاء فی الشعر:۵۰۰۹، وهو صحیح.

(۶) احمد:۴/۱۲۵، مسندالبزار:۲۰۹۴.

(۷) الجامع الصغیر للسیوطی

(۸) صحیح مسلم کتاب الشعر باب فی انشادالاشعار وبیان اشعر الکلمة:۲۲۵۵.

(۹) ابوداود کتاب الادب باب ماجاء فی الشعر:۵۰۱۰، وهوعندالبخاری:۶۱۴۵.

Scanned with Ca

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ

| آیا نۀ وینی دا خلق | چی بیشکه پیدا کړل مونږه | دپاره ددوئ

آیا داخلق دې ته نه ګوری | چې مونږ ورله په خپل لاس باندې د جوړ کړو

مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ ﴿٧١﴾

دهغې نه | چه جوړ کړی دی | لاسونو زمونږ | څاوری | پس دوی | هغې لره | مالکان دی

څیزونو نه څاروی پیدا کړی دی |..... نو دوئ دهغې مالکان شول

وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا

اوتابع کړی دی مونږ دغه څاروی | دپاره ددوئ | پس څینی دهغې نه | سورلئ ددوئ دی | اوځینی دهغې نه

او (بیا) مونږ دغه څاروی ددوئ دحکم تابع کړل | نو په بعضو باندې سورلی کوی | او د بعضو نه

يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۖ أَفَلَا

خوری دوئ | او دپاره ددوئ | په هغې کښې | فائدې | آود څکلو څیزونه دی | نوآیا

خوراک کوی | او په دغه څاروو کښې دوی دپاره نورې ډیرې فائدې دی | اود څکلو څیزونه دی | نو ایادوئ بیاهم

يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لَّعَلَّهُمْ

دوی شکر نه اوباسی | او نیولی دی دوی | ماسوا دالله نه | خدایان | دپاره ددې چه دوی سره

شکر نه اوباسی | او دوئ دالله نه بغیر خانله معبودان په دې امید جوړ کړی دی | چې امداد بۀ ورسره اوکړې

يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ

امداد اوکړې شی | طاقت نه لری دوئ | دامداد ددوئ | بلکه داخلق | دپاره دهغوئ | لښکردې

شی | دغه معبودان ددوئ هیڅ مدد نشی کولې | (بلکه) دغه څیزونه به ددې کافرانو په مقابله کښې

مُّحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾ فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا

حاضر اوسیدونکی | پس غمژن دې نه کړی تا | خبرې ددوئ | بیشکه مونږ پوهیږو | په هغې

د لښکر (دشمن) په شان پیش کړې شی | نوته ددوئ په خبرو خفګان مه کوه | مونږ ته هر څه معلوم دی

يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

چه دوی نې پټوی | اوپه هغې | چه دوئ نې ښکاره کوی |

کوم چې دوئ په زړونو کښې پټ ساتی | او کوم چې ښکاره کوی |

قوله تعالی:: أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ

دځناورو پیدائش او تابع کول دالله ﷻ په بندګانو باندې انعام:: الله تعالی دخپل انعام اواحسان ذکرکوی، چه هغه پخپله دادځلوروخپووالاپیداکړی دی اودانسان په ملکیت کښې نې ورکړی دی. یووړوکې شان ماشوم هم چه کله داوښ پیزوان اونیسی، نوداوښ په شان لوې اوطاقت ورځناردهغه سره وی. دسلو اوښانو قطار دیو ماشوم سره سیده روان وی. دهغه په ماتحتئ کښې بعضې دمشقت والاکارونه زرزراوپه اسانتیاسره کوی. پخپله پرې سوریږی، سامان پرې اوړی، اوبوجھ پرې اوړی. اودبعضوغوښې

خوری. ویښتو او څرمنو وغیره نه هم فائده اخلی. پیئ نی څکی،اودعلاج دپاره نی متیازي په کارراځی،اونورئ فائدي ترې هم حاصلوی.نوبیادوی ته نه دی پکارچه ددي نعتمونوورکولووالا،ددي احسانونوکولووالا،ددي څیزونوپیدا کونکي، ددي دحقیقی مالك شکراداکړی؟صرف دهغه عبادت اوکړی،دهغه توحیداومنی اودهغه سره څوك شریك نه کړی.

قوله تعالی:: وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً

الله تعالی هر څه کوی او ددوئ معبودان هیڅ نشی کولي: دمشرکانوددي غلطي عقیدي انکارکیږی چه هغوی ګنړی چه دچاهغوی دالله تعالی نه سواعبادت کوی،هغوی ددوی مددکوی.دهغوی په روزئ کښی برکت اچوی اوالله تعالی ته نی نزدي کوی.الله تعالی فرمائی چه هغوی ددوی مددنشی کولي.ددوی مددخوځه هغوئ خپل مددهم نشی کولي.اودابتان خوددښمن دنقصان نه خپل ځان هم نشی ساتلي.که څوك راشی اومات رامات نی کړی نودوی دهغوی څه نشی کولي.بلکه دوی خبرې هم نشی کولي،عقل پکښی نشته،دابتان به دقیامت په ورځ جمع شوی حساب په وخت دخان ته عبادت کونکوپه مخکښی په لاچارئ اوبي کسئ سره موجودوی.چه مشرکان پوره ذلیله شی اوپه هغوی باندي خبرې اوشی.حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه مطلب دادي چه دابتان خودهغوی هیڅ قسمه امدادنشی کولي،خوبیاهم دابي عقله مشرکان دهغوی مخکښی داسي پراته وی،لکه چه څوك حاضروی،هغوی ته څه فائده نشی رسولي،اونه ترې څه نقصان لرې کولي شی.خودوی دی چه دهغوی په نوم باندي مړه کیږی.تردي چه دهغوی خلاف خبرې هم اوریدل نه غواړی.اوپه غصه کښی بې قابوشی.اې نبی ﷺ ددي کافرانوپه خبروباندي تاسومه خفه کیږئ،مونږته ددوی ظاهراوباطن ښکاره دي.وخت راروان دي چه مونږبه دوی ته دهریوخیز بدله ورکړو.

اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ	اَنَّا خَلَقْنٰهُ							
ایا نه ګوری انسان	چه بیشکه پیدا کړو مونږ دي							
ایا انسان دي ته نه ګوری چې مونږ								
مِنْ نُّطْفَةٍ	فَاِذَا هُوَ	خَصِيْمٌ	مُّبِيْنٌ ﴿۷۷﴾	وَضَرَبَ	لَنَا			
دنطفي نه	پس اوس دادي هغه	جګړه کوونکی دي	ښکاره	او بیانوی هغه	دپاره زمونږ			
دي دیو څاڅکی نه پیدا کړو	ایبا دي په ښکاره	دخپل رب په باره	کښی، جګړه کوی	اودي زمونږ په باره کښي				
مَثَلًا	وَّنَسِيَ	خَلْقَهٗ	قَالَ	مَنْ يُّحْيِ	الْعِظَامَ	وَهِيَ رَمِيْمٌ ﴿۷۸﴾		
مثال	او هیروی	پیدائش خپل	وائی	څوك به ژوندي کوی	داهډوکی	اوحال دادي چه وراسته دی		
مثالونه بیانوی	اوخپل حقیقت نی هیرکړو	وائی چې څوك به هډوکی راژوندی کړی	څه وخت چې هغه به زاړه شوی دی					
قُلْ	يُحْيِيْهَا	الَّذِيْٓ	اَنْشَاَهَآ	اَوَّلَ مَرَّةٍ	وَهُوَ			
ورته اووایه	ژوندی کوی به دي لره	هغه ذات	چه پیدا کړی وو هغه	اول ځل	حال دادي چه هغه			
ائي نبی ﷺ ته جواب ورکړه	چې هغه ذات به نې راژوندی کوی	چاچې په اول ځل پیدا کړی دی						
بِكُلِّ خَلْقٍ	عَلِيْمٌ ﴿۷۹﴾	الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمْ	مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ			
په هرپیدائش باندي	ښه پوهه دي	هغه ذات چه	پیدائي کړو	ستاسو دپاره	دونې شنې نه			
او هغه په هر قسم پیدائش ښه پوهه دي	هغه داسي ذات دي چې تاسو دپاره نې د شنو ونو نه اور پیدا کړي دي							

نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾

اوور | پس اوس تاسو | دهغې نه | اوور بلوئ

ځوبيا دهغې نه تاسو نور اورونه بلوئ |

قوله تعالى:: أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ

چاچه مخکښې پيداکړل هغه مړی هم ژوندی کولې شی: ابی بن خلف ملعون يوځل په خپل لاس کښی يوزوړاو سخا شوې دننه نه خالی هډوکې راوړواوپه لاس کښی ې هغه اومړلوچه دهغې تکړې په هواکښی الوتلئ نوحضورﷺ ته ې اووئيل.چه تاسووائی چه داهډوکی به الله تعالی ژوندی کوی؟ حضورﷺ اوفرمائيل او،الله تعالی به تاهلاک کړی اوبيابه دې ژوندې کړی،بيابه تاجهنم طرف ته اوليږی.په دې موقع باندې ددې سورت اخری ايتونه نازل شول.(۱)اوپه روايت کښی دې چه اعتراض کولووالاعاص بن وائل وو.اوددې ايت نه تردسورت داخرې پورې ايتونه نازل شول(۲).اوپه روايت کښی دی چه داواقعه دعبدالله بن ابی نه شوې وه. خولږشان غورغواړی.ځکه چه دامکی سورة دې،اوعبدالله بن ابی خوپه مدينه کښی وو.بهرحال که دايتونه دابی په سوال باندې نازل شوی وی يادعاص په سوال باندې،عام دی.په لفظ انسان باندې چه الف لام دې هغه جنس دې.کوم کس چه هم ددويم خل دژوندمنکردې،دهغه دپاره جواب دې.مطلب داچه هغه خلقوته پکاردی چه پخپل پيدائش باندې غوراوکړی.چه هغه ديوې څخه قطرې نه انسان پيداکړواوددې نه مخکښی هغه هيڅ هم نه وو.بيادهغه قدرتونه نه منل څه معنی لری؟دامضمون په نوروډيروايتونوکښی هم بيان شوې دې.لکه په ﴿ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ۝ فَجَعَلْنَٰهُ فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ۝ ﴾ اولکه ﴿ إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ ﴾

ابن ادم ته دالله ﷻ خطاب:: مسنداحمدکښی دی چه يوځل حضورﷺ په خپل لاس کښی لاړې اوتوکلې اوبيائی اوفرمائيل چه الله تعالی فرمائی چه اې د ادم اولاده، تاسوماعاجزه کولئ شئ؟ماتاسودداسې څيزنه پيداکړئ.چه بيامې کله جوړاوتهيک تکړه کړئ نوتاسوکښی تکبرپيداشواوتاسومال جمع کول اودغربانانونه مولرې اوسيدل شروع کړل. او چه کله موساه وتله نوبيامووئيل چه زه به اوس خپل ټول مال دالله په لارکښی صدقه کړم،خوبيا دصدقې وخت چرته دې.(۳) يعنی دنطفې نه پيداشوې انسان خبرې شروع کړې اوپه دويم خل باندې پيدا کيدل ئې نه منل.دهغه الله تعالی دقدرت نه سترګې واړولې چه هغه زمکه اسمان اوټول مخلوق پيداکړو.خوددوی دعقل په سترګوخوچتی ناست دی.ددې په جواب کښی ورته اووايه چه رومبی خل داهډوکی چه اوس خراب شوی دی چه چاپيداکړی ووهغه به نی بياهم پيداکړی.کوم کوم خائې کښی چه داهډوکی دی هغه ته ښه معلوم دی.

دپخوا زمانې د يوسړی د تعجب واقعه:: دمسندپه حديث کښی دی چه يوځل حضرت حذيفهﷺ ته حضرت عقبه بن عمرواووئيل چه مونږته درسول اللهﷺ نه اوريدلې حديث بيان کړه.نوهغه ورته اوفرمائيل چه حضورﷺ فرمائيلی دی چه يوکس دمرګ په حالت کښی خپل وارثانوته وصيت اوکړو چه زه کله مړشم نولرګی راټول کړئ اوما اوسيزئ ،اوبياهغه ايرې په سمندرکښی لاهوکړئ،نوهغوی هم هغه شان اوکړل.الله تعالی دهغه ايرې راجمع کړی هغه ئی بياژوندې کړواوتپوس ئی تری اوکړوتاداسې ولې اوکړل؟هغه جواب ورکړوچه صرف دستادويرې.الله تعالی هغه اوبخلو.حضرت حذيفهﷺ فرمائی چه

---

(۱) الطبری : ۲۰/۵۵٤.

(۲) الطبری : ۲۰/۵۵٤.

(۳) احمد:٤/۲۱۰، ابن ماجه: کتاب الوصايا باب النهی عن الامساک فی الحياة والتبذير عندالموت:۲۷۰۷. وسنده صحيح.

Scanned with Ca

حضور ﷺ په لارباندې په روانه داحدیث بیان کړوچه مادهغوی دژبې مبارکې نه په خپلوغوږونواوریدلې دي.(۱) داحدیث په صحیح مسلم او بخاری کښی په ډیروالفاظوسره روایت شوې دي.
په یوبل روایت کښی دی چه هغه سړی اووئیل چه زما یره دهواطرف ته والوخوئ،څه په هواکښی اوخه په دریاب کښی لاهوکړئ.سمندرکښی چه څومره ایره وه هغه نی دالله په حکم راجمع کړه،هم دغه شان هواهم اوکړل. اوبیاهغه دالله په حکم سره ژوندې شو.الخ.(۲)

قوله تعالی:: اَلَّذِیْ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا

دالله تعالی دقدرت مشاهده: بیادخپل قدرت خودنې دپاره اوددې خبرې دلیل ورکولودپاره چه الله تعالی په هریوځیزباندې قدرت لرونکې دې اومړی واپس ژوندی کولې شی جداځیزونه په یوقالب کښی جمع کولې شی،وئی فرمائیل چه تاسوغوراوکړئ چه په اوبوماونئ پیداکړې چه هغه شنې دی اومیوې کوی.بیاهغه اوچې شوې اودهغې دلرگونه ماوارویستلو،چرته ددې هغه یخ والې اوچرته داگرمی.نوماته څه کول گران نه دی.لوانده اوچول اواوچ لوندول، ژوندې مړه کول اومړو ته زندگی ورکول زماپه قدرت کښی دی.داهم وئیلی شوی چه ددې نه مطلب د مرخ اوعفار ونې دی کومې چه په حجازکښی دی،ددې شنه خانبونه یوبل سره مړلوباندې دوی ته ډیرتیزئ سره اولگی.موپه عربوکښی یومثل مشهور دې، "لکل شجرنارواستمجد المرخ والعفار"،دحکمت والوقول دې چه د انگوردونې نه علاوه په هره ونه کښی اورشته.

اَوَلَيْسَ	الَّذِیْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ								
	ایا نه دي	هغه ذات	چه پیدائی کړل اسمانونه								
ایا هغه الله ﷻ چا چې اسمانونه اوزمکه پیداکړی دی											
وَالْاَرْضَ	بِقٰدِرٍ	عَلٰٓى	اَنْ	يَّخْلُقَ	مِثْلَهُمْ ؕ	بَلٰى ۙ	وَهُوَ	الْخَلّٰقُ			
اوزمکه	قدرت لرونکئ	په دې چه پیداکړی		مثل ددوی	اولې نه لری	اوهغه خوپیداکونکې دې					
په دې کار قادر نه دې	چې هغه به ددوئ پشان نور خلق پیدا کړی				ولې نه..... هغه						
الْعَلِيْمُ ۝	اِنَّمَآ	اَمْرُهٗٓ	اِذَآ	اَرَادَ	شَيْـًٔا	اَنْ	يَّقُوْلَ	لَهٗ			
پوهه ماهر	بیشکه حکم دهغه چه دې		کله چه اراده اوکړی		دیوځیز	دادې چه اووائی	هغه ځیزته				
پیداکونکې اوپوهه دې	د هغه شان دادې چې څه وخت هغه د یو ځیز اراده اوکړی				انو ورته وائی						
كُنْ	فَيَكُوْنُ ۝	فَسُبْحٰنَ	الَّذِیْ	بِيَدِهٖ	مَلَكُوْتُ						
شه	نو هغه شی	پس پاکی ده هغه لره	چه په لاس دهغه کښې	بادشاهی							
چې موجود شه	نوهغه موجود شی	نو دالله ﷻ دپاره پاکی دیه		دچا په لاس کښې چې دهریو ځیز							
كُلِّ شَیْءٍ	وَّاِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ ۝ ع									
دهیر ځیزده	اوخاص هغه ته به واپس کیږئ تاسو										
پوره پوره اختیار دې	اوتاسوټول به هغه ته واپس ورځئ										

قوله تعالی:: اَوَلَيْسَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

---

(۱) احمد:۵/۳۹۵، صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب مایکره عن بنی اسرائیل :۳۴۵۲.
(۲) صحیح بخاری کتاب الاحادیث الانبیاء باب :۵۴حدیث رقم: ۳۴۷۹. صحیح مسلم:۲۷۵۷ عن ابی سعید الخدری ﷺ.

Scanned with Ca

دزمکې اواسمان خالق ښځې اوسړی بیاپیداکولې شی: الله تعالی خپل زبردست قدرت بیانوی چه هغه اسمانونه اوددې هریوځیزپیداکړو.زمکه اوپکښی دننه هریوځیزئې پیداکړو.بیادومره لوې قدرتونو والا، دانسان په شان وړوکې مخلوق نشی پیداکولې دادعقل نه خلاف خبره ده.ځنګه چه فرمائیلی دی.﴿ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ﴾ زمکه اواسمان پیداکول دانسان دپیداکولونه ډیرلوې اواهم دی.دلته ئې هم فرمانیلی دی چه هغه الله تعالی چاچه زمکه اواسمان پیداکړوهغه به دانسان په شان وړوکې مخلوق نشی پیداکولې؟اوچه هغه قدرت لرونکې دې نوهغه به یقینادمړکولونه پس بیاهغوی ته ژوندورکړی،چاچه په رومبی ځل پیداکړل،هغه ته په دویم ځل پیداکول ډیراسان دی.ځنګه چه په بل ایت کښی دی.﴿ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ﴾ ولې هغوی نه ګوری چه کوم الله تعالی زمکه اواسمان پیداکړواوددې پیداکولوکښی ستړې نشو،نوهغه به مړی ژوندی نه کړی؟ بې شکه قدرت لری بلکه هغه خوپه هریوځیزباندې قدرت لرونکې دې.هغه پیداکونکې او جوړونکې دې،ایجادکولووالااوخالق دې.ددې سره هغه هوښیار،لیدونکې اودهریوځیزنه خبردې.هغه چه څه کول غواړی دهغه صرف حکم ورکول کافی دی.

هر وخت د الله ﷻ نه معافی غوښتل پکار دی: دمسندپه حدیث قدسی کښی دی چه الله تعالی فرمانی.اې زمابندګانواخوچه زه څوك معاف کوم، تاسومانه معافی غواړئ،زماوعده ده چه زه معاف کول کوم.تاسوټول فقیران یئ،خوچه زه چاته غواړم دولت ورکړم.زه جوادیم،ماجدیم،واجدیم،زه چه څه کول غواړم کوم.زماانعام هم یوحکم دې او زما عذاب هم یوحکم دې.زه چه کوم کارکول غواړم اووایم،اوشه اوهغه اوشی(۱).دهریوعیب نه پاك حی او قیوم ذات دی.چه هغه دزمکې اواسمان بادشاه دې،چه دهغه په لاس کښی دزمکې اواسمانونوچابیانې دی.هغه دټولو خالق دې اوهغه اصلی حاکم دې.دهغه طرف ته به دقیامت په ورځ ټول واپس کیږی اوهغه عادل اومنعم دې.الله تعالی به دوی ته سزااوجزاورکوی.بل خائې کښی فرمان دې،الله تعالی پاك دې دچاپه لاس کښی چه دهریوځیزملکیت دې،اوپه ایت کښی دی څوك دې چه دهغه په لاس کښی دهریوځیزاختیاردې.اوفرمان دې.﴿ تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾ بس دملك او ملکوت دواړویوه معنی ده.لکه رحمت اورحموت،رهب اورهبوت اوجبر او جبروت . بعضووئیلی دی د ملك نه مراد دبدنونومالك اوملکوت نه مراددروحونومالك دې.خوصحیح خبره رومبئ ده اوهم داقول دډیرومفسرینودې.

قوله تعالی:: فَسُبْحٰنَ الَّذِیْ بِيَدِهٖ

دتهجدو دعاګانې:: حضرت حذیفة بن یمان﷿ فرمائی چه یوه شپه زه دتهجدوپه مونځ کښی دحضورﷺ په اقتداکښی اودریدم.حضورﷺ اووه لوې لوې سورتونه(یعنی پاوکم لس سیپارې)په اوورکعتونوکښی اووئیلې.سمع الله لمن حمده وئیلواورکوع نه سراوچتولونه پس به حضورﷺ داوئیل.**الحمدالله ذي الملکوت والجبروت والکبریاء والمعظمة**،بیادحضورﷺ رکوع دقیام هومره وه.اوسجده به ئې درکوع هومره وه.زماحالت خوداسې شوچه خپې مې په ماتیدوشوې(ابوداؤدوغیره) (۲)هم دغه حضرت حذیفه﷿ نه روایت دې چه حضوراکرمﷺ هغه دماسخوتن په مونځ باندې لیدلې وو،حضورﷺ دې دعاوئیلونه پس بیاقرات شروع کړو.**الله اکبرالله اکبرذی الملکوت والجبروت والکبریاء والعظمة**،بیائې ټول سوره بقره اووئیلونورکوع ئې اوکړه.په رکوع کښی ئې هم هغه هومره وخت واخستلواو**سبحان ربی العظیم** ئې وئیلو.بیائې درکوع نه سراوچت کړواوتقریباهغه هومره وخت ولاړوو.او **لربی الحمد**، ئې وئیل،بیا سجدې ته لاړوهغه هم تقریبادقیام

---

(۱) احمد: ۱۷۷/۵. ترمذی:کتاب صفة القیامة: باب :٤٨رقم:٢٤٩٥.

(۲) احمد:۳۸۸/۵،.

برابروه،اوپه سجده کښې حضورﷺ سبحان ربی الاعلی وئیل،بیائې دسجدې نه سراوچت کړو.دحضورﷺ عادت مبارک وو،چه ددواړوسجدومینځ کښې به دومره وخت کیناستو،څومره وخت چه به نې په سجدو کښې اخستلو.اورب اغفرلی رب اغفرلی به نې وئیل.حضورﷺ څلورر کعتونه اداکړل.
سوره بقره،سوره ال عمران،سوره نساء،اوسوره مائده نې تلاوت کړل.حضرت شعبهؒ ته شک دې چه سوره مائده نې اولوستلواوکه سوره انعام؟په نسائی و غیره کښې دی(۱) چه حضرت عوف بن مالک اشجعیؓ نه روایت دی چه مایوه شپه دحضورﷺ سره دتهجدمونځ اوکړو.حضورﷺ دسوره بقره تلاوت اوکړو،په هرهغه ایت باندې کومې کښې چه درحمت ذکرشوې دې حضورﷺ به اودریدواودالله تعالی نه به نې رحمت اوغوښتلو،اوپه هرهغه ایت باندې کوم کښې چه دعذاب ذکرشوې دې،حضورﷺ به اودریدواودالله نه به نې پناه اوغوښتله.بیاحضورﷺ رکوع اوکړه هغه هم دقیام نه کمه نه وه.اوپه رکوع کښې به نې فرمائیل "سبحان ذی الجبروت والملکوت والکبریاء والعظمة" بیاحضورﷺ سجده اوکړه،هغه هم دقیام هومره وه اوپه سجده کښې نې هم دغه فرمائیل،بیائې په دویم رکعت کښې سوره ال عمران اولوستلو،بیائې دغه شان یویوسورت نې په یویورکعت کښې اولوستلو.(۲)

تفسیرسورة الصافات

په نسائی کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دی چه حضورﷺ به مونږته دسپک مونځ کولوحکم فرمائیلو،اوحضورﷺ به مونږته په سوره الصافات باندې مونځ راکولو.(۳)

ایاتونه		سورة الصّافّات مكية وهي مائة واثنتان وثمانون اٰية وخمس ركوعات		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۱		شروع کوم په نوم د الله چه اَیرمهربان زیات رحم کونکیګ دیګ		۵
وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۝۱ فَالزّٰجِرٰتِ				
قسم دې په صف جوړونکو فرښتو باندې | په صف جوړولو سره | بیا په زورنه ورکونکو فرښتو باندې				
قسم دې په هغه فرشتو چې په صفونو کښې په قطار ولاړ وی | او په هغه فرشتو چې				
زَجْرًا ۝۲ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۝۳ اِنَّ اِلٰهَكُمْ				
په زورنه ورکولوسره|بیاپه لوستونکوفرښتوباندې|کلام دنصیحت لره|چې بیشکه حقیقیی معبود ستاسو				
(شیطانان) په کله رتبې | او په هغه فرشتو چې دقران پاک تلاوت کوی | بیشکه ستاسو معبود				
لَوَاحِدٌ ۝۴ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا				
خامخا یو دی | چې رب داسمانونو | او دزمکې دې | او دهغې چې په منځ ددې دواړو کښې دی				
یو دی | هغه داسمانونو اوزمکې اوددې په مینځ کښې چې څه دی د ټولو څیزونو رب دی				
وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۝۵				
او رب دټولو مشرقونو دی |				
اود نمر راختلو دځایونو رب دی |				

(۱) ابوداود کتاب الصلاة باب مایقول الرجل فی رکوعة وسجوده :۸۷٤، وهوصحیح نسائی ۱۰۷۰.
(۲) ابوداود حواله سابق. وسنده صحیح.
(۳) نسائی کتاب الامامة باب الرخصة الامام فی التطویل : ۸۲۷، وسنده حسن.

Scanned with Ca

قوله تعالى:: وَالصّٰٓفّٰتِ

دفرشتوقسمونه اووډي قسمونه: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه ددې دري قسمونو نه مراد فرښتې دي(۱). دنورزياتوحضراتوهم داقول دي. حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه دفرښتوصفونه په اسمان کښی دي. (۲) په مسلم کښی دی چه حضور ﷺ فرمائيلی دی. مونږته په ټولوخلقوباندې دري خبروسره فضيلت راکړې شوې دي.

① زمونږصفونه دفرښتودصفونوپه شان جوړکړی شوی دی. ② زمونږدپاره ټوله زمکه جمات ګرځولې شوې دي. ③ اواوبه نه ملاويدووخت کښی دزمکې خاوره زمونږدپاره داودس په ځائې کارکوی. (۳) مسلم وغيره کښی دی چه يوځل حضور ﷺ مونږته اوفرمائيل تاسوهغه شان صفونه نه جوړوئ څنګه چه فرښتې الله تعالى ته صفونه جوړوی. مونږعرض اوکړوهغه څنګه؟ حضور ﷺ اوفرمائيل مخکښی صفونه پوره کوی اوصفونه ديوبل سره ملاوساتی. (۴) دزجروالونه مراددهندی رحمه الله په نزدباندې وريځ ته د زجر حکمونه ورکول اويوخوا بل خوا ته تلووالافرښتې دی.

ربيع بن انس رضي الله عنه فرمائی قران مجيدچه دکوم څيزنه منع کوی هغه هم ددې نه بندوی. ذکرالله تعالى تلاوت کولووالافرشتې هغه دی کومې چه دالله تعالى پيغام بندګانوته راوړی. څنګه چه فرمائی ﴿فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ۝ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ۝﴾ يعنی دوحی ورولووالوفرښتوباندې قسم چه هغوی عذر غورځولو يا د خبرولودپاره دی. ددې قسمونونه پس چه په کوم څيزونوباندې قسمونه خوړلی شوی دی دهغې ذکر راروان دي. چه دستاسوټولومعبودالله تعالى دي. هغه داسمانونواوزمکواوددې په مينځ کښی دهرڅه مالك دي. هغه په اسمان باندې نمرسپورمې اوستوری اوځلول. چه هغه دمشرق نه راښکاره کيږی اوپه مغرب کښی ډوبيږی. دمشرق ذکرکول اودمغرب ذکرپريخودل دهغې دموجودتياباندې دلالت کوی. په بل ايت کښی ذکرکړې هم دي. ﴿رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ۝﴾ يعنی ديخنئ اوګرمئ، د راختلو او ډوبيدلو د خائې رب هم هغه يودي.

اِنَّا زَيَّنَّا	السَّمَآءَ	الدُّنْيَا	
بيشکه ښائيسته کړې دي مونږه	اسمان	ددنيا	
دا مونږ يو چې د دنيا اسمان مو په يو عجيبه رونق يعنی			
بِزِيْنَةِ	الْكَوَاكِبِ ۝	وَحِفْظًا	مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ
په ښائيست دستورو سره	او محفوظ کړې دي (مونږه دا اسمان)		دهر شيطان
ستورو ښائسته کړې دي	اودهر يو سرکش شيطان نه مو دهغې حفاظت کړې دي		
مَّارِدٍ ۝	لَا يَسَّمَّعُوْنَ	اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى	وَيُقْذَفُوْنَ
سرکش نه	دا شيطانان نشی اينښودې غوږ	ملاء اعلى ته (ټولی پورته ته)	اوويشتلې کيږی
(شيطانان) (دفرښتو) د اوچت مجلس هيڅ خبره نشی آوريدلې		اودهر طرفنه ددوی دتښتولودپاره	

---

۱) الطبری: ۷/۲۱.
۲) الطبری: ۷/۲۱.
۳) صحيح مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة: ۵۲۲.
۴) صحيح مسلم: كتاب الصلاة باب الامر بالسكون فی الصلاة والنهی عن الاشارة باليد: ۴۳۰.

Scanned with Ca

مِنۡ	كُلِّ	جَانِبٍ ۝٨	دُحُورًا	وَّلَهُمۡ	عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۝٩	اِلَّا

دهر طرفنه | دپاره دشړلو | او دې دپاره ددوئ | عذاب سخت (مسلسل) | مګر |

په دوئ سروتکې غورزولې شی | اوددوئ دپاره د همیشوالی عذاب دې | .....البته

مَنۡ	خَطِفَ	الۡخَطۡفَةَ	فَاَتۡبَعَهٗ	شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝١٠

هغه (شیطان) | چې وې تښتوله | یوه خبره | نو ورپسې شی په هغه پسې | یوه شعله | رڼا کونکی

که چا په کښې چرته یو نیم خبر اوتښتولو | نو یو ګرمه ځلنده شعله ورپسې ورروانه شی

قوله تعالی:: اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنۡيَا

ستوری داسمان خکلاده: اسمان ته کتلووالانظرته چه کوم خانست ورکړې شوې دې،دهغې دذکرییان دې. داداضافت سره وئیلې شوې دې،اودبدلیت سره هم،په دواړوحالتونوکښې یوشان دې.دهغه د ستورو،هغه دنمررڼرازمکه اوپرقوی،څنګه چه په یوبل ایت کښې دی.﴿وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنۡيَا﴾ مونږ زمکې اواسمان ته خانست ورکړو اودامو دشیطانانو دپاره دشیطانانود ویشتلو ذریعه جوړه کړه. او مونږ دهغوی دپاره د اور دسیزلو عذاب تیارکړې دې.

قوله تعالی:: فَاَتۡبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝

شهاب ثاقب: اوپه ایت کښې دی چه مونږپه اسمان کښې برج جوړکړې دې،اوهغې ته کتلووالاانسانانوپه سترګو کښې ننوتلووالاځیزونه جوړکړل اودشیطان رجیم نه موهغه محفوظ اوساتل.چه یوشیطان دچا خبره اوړی نودهغه طرف ته یوه تیزه شعله روانه شی.اومونږدهرسرکش شیطان نه داسمانونوحفاظت اوکړو،دهغه په بس کښې نشته چه دفرښتوخبرې واوړی.اوچه کله هغه داسې کوی نویوه شعله دهغه طرف ته روانه شی اوهغه اوسوزوی. دوی اسمانونو پورې نشی رارسیدې،دالله تعالی دشریعت او د تقدیردکارونودچاخبرې دوی نشی اوریدې.ددې باره کښې حدیثونه مونږپه ایت **﴿حتی اذافزع﴾** تفسیر کښې بیان کړل.دکوم طرف نه هم چه دوی اسمان ته خیژی دهغه ځائې نه ددوی طرف ته اور وراچولې شی. دوی لرې کولوذلیله کولو،اودرولو،اومخکښې نه تلودپاره داسزابیان کړې شوه،اوداخرت ټول عمری عذاب لاپاتې دې.کوم چه ډیرالمناك،دردناك اوهمیشه والی والادې.اوکه چرې یوجن څه خبره دفرښتې نه واوړیده اوهغه دځان نه لاندینی کس ته اووئیله،اوهغه دځان نه لاتدنی کس ته،نویوشعله دهغه پسې شی نودهغه دلاتدینی ته رسولونه مخکښې هغه شعله دې اوسیزی،کله هغه دبل غوږونوته اورسی.هغه خبرې دی کومې چه دکاهنانوغوږونوته دشیطانانوپه خولې رارسی.دثاقب مطلب ډیرنویات تیز،زیاتې رنړاوالادې.

دشیطان اسمان ته د ختلو سلسله وه بیا ختمه شوه:: دحضرت ابن عباس﵁ بیان دې چه شیطانان به مخکښې اسمانونوته تلل اووحی به ئې اوریدله،هغه وخت به په دوی باندې ستوری نه ماتیدل،دوی به دهغه ځائې خبرې دلته دکاهنانوپه غوږونوکښې ددروغوسره وئیله.کله چه حضورﷺ ته نبوت ملاوشو، نو بیادشیطانانواسمان ته تلل ختم شول.اوکه اوس دوی څې نودوی پسې داورشغلې غورځولې کیږی او هغوی اوسوزوی،کله چه هغوی ددې نوې پیدا شوی کارخبرابلیس ملعون ته اورسولو،نوهغه اووئیل چه دځه خاص کارپه وجه باندې دومره احتیاط او حفاظت کړې شوې دې.نودخبررسانوډلو هغه په دنیا کښې خواره کړل،کوم ډله چه دحجازطرف ته لاړو،هغوی اولیدل چه حضورﷺ دنخله ددواړو غرونو په

Scanned with Ca

مینځ کښې مونځ کوی. هغه ابلیس ته داخبراورسولو، هغه اوونیل هم دغه وجه ده چه ستاسو اسمان ته تلل بندشوی دی(۱). ددې پوره تفصیل که دالله خوښه وی نوپه ﴿وَاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ﴾ کښې به راشی.

فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ

پس تپوس اوکړه ته ددوئ نه | ایا دوئ | زیات سخت دی | په پیدا کولو کښې | یا هغه څیزونه |

نوددوئ نه تپوس اوکړه | چې ددې خلقو پیدا کول ګران دې | یا دهغه ټولو څیزونو کوم چې

خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ﴿۱۱﴾ بَلْ

چې پیدا کړی دی مونږه | بیشکه پیدا کړی دی مونږ دوئ | دختې | سلیخناکې نه | بلکه

مونږ پیدا کړی دی | داخلق مونږ دیوې څلیښناکې څخې نه پیدا کړی دی | ..... بلکه ته خو

عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ﴿۱۳﴾

تعجب کوې ته | او ټوقې کوی دوئ | او کله چې | نصیحت کیدې شی دوئ ته | نونصیحت نه قبلوی دوئ

«ددودئ په انکار تعجب کوې | اودوئ (په ټاپورې) ټوقې کوی | اوکله چې دوئ پوهولې شی | نودوئ نه پوهیږی

وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ هٰذَآ

اوکله چې | اووینې دوئ | یوه نښه | نو ورپورې ټوقې کوی دوئ | اووائی دوئ | چې نه دې دا |

اوکله چې دوئ یوهٔ معجزه اووینی | نوپه هغې پورې ټوقې کوی | اودا وائی چې دا خو

اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا

مګر | جادو دې | ښکاره | ایا کله چې | مړه شو مونږه | او شو | خاوری | او هډوکی |

ښکاره جادو دې | ..... ایاکله چې مونږ مړه شو | او ښاوری او هډوکی شو

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۱۶﴾ اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿۱۷﴾ قُلْ نَعَمْ

ایا مونږه به ژوندی راپاسولې شو بیا | ایا او پلاران زمونږه | رومبنی (هم) | ورته اووایه | چې هو |

نولابیابه راژوندی کولی شو | اوایا زمونږ پلار نیکه به هم راژوندی کولې شی | ته اووایه چې اؤ

وَاَنْتُمْ دَاخِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمْ

او تاسو | ذلیله (بې وسه) یئ | پس بیشکه | دا قیامت | جړق دې یو | پس په هغه دم به | دوئ

تاسو به ذلیل او خوار یئ | قیامت خوبه بس یوه چغه وی | نوهغه وخت کښې به دوئ ټول لیدل کتل

يَنْظُرُوْنَ ﴿۱۹﴾

کوری (چې څه کیږی) |

شروع کړی |

قوله تعالی:: فَاسْتَفْتِهِمْ

دانسان پیدائش او د قیامت منکر ته ربّنه: الله تعالی خپل نبی ﷺ ته حکم کوی چه ددې قیامت نه منکرونه تپوس اوکړه چه دستاسوپیداکول مونږته ګران دی یازمکه اسمان فرښتې اوپیریان وغیره؟دابن

---

(۱) الطبری: ۱۲/۲۱..

مسعود رضی الله عنه دقرات ﴿ام من عددنا﴾ نه (۱) مطلب دادی، چه داخوهغوی هم منی نوبیادمرګ نه پس دژوندنه انکار ولې کوی؟ نوپه بل ایت کښی دی چه دانسان دپیدائش نه خوډیرلوې اودروندپیدائش دزمکې او اسمان دې، خوزیات خلق بې عمله دی. بیادانسان پیدائشی کمزوری بیانوی چه دې دمتینې خاورې نه پیدا دی، چه په هغې کښی ټینګوالې وواوهغه به لاسونوپورې اینختله. نوته حقیقت پورې اورسیدې نو په دې وجه ددوی په انکارباندې تعجب کوی. ځکه چه دالله تعالی قدرتونه اوفرمانونه دستاسووراندې دی. خودوی هغه اوریدلوسره خاندی اوچه کله څه واضح دلیل دهغوی مخې ته راشی، نوهغوی خندا کوی اووائی چه داخوجادودې، مونږداځنګه اومنوچه دمرګ نه پس خاورې کیدلونه به بیاژوندی شو. اوزمونږپلارنیکونه به هم ژوندی شی. مونږدانه منو.

قوله تعالی:: قُلْ نَعَمْ

منکرینوته جواب:: دالله داسې ذات دې چه دهغه مخکښی څوک هم نشته. فرمائی ﴿وَكُلٌّ اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ۝﴾ هر یو کس دهغه مخکښی په عاجزئ اولاچارئ سره حاضریدونکې دې. په یوایت کښی دی. ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ﴾ زما عبادت نه کولو والابه خوار او ذلیله وی اودوزخ ته به داخلیږی. بیاالله تعالی بیان فرمائی چه تاسوځه ګران ګنړئ هغه خوماته بالکل اسان دی. صرف یواوازنه پس به هریودزمکې نه راوځی اودقیامت دهشت اوحالاتوته به ګوری. والله اعلم.

وَقَالُوْا	يٰوَيْلَنَا	هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ۝		
اووائی به دوئ	اے افسوس دې مونږ لره	دا ورځ دجزا ده		
اودوئ به وائی چې هائې افسوس	داخو دقیامت ورځ راغله			
هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ	الَّذِيْ	كُنْتُمْ	بِهٖ	تُكَذِّبُوْنَ۝
دا ورځ دفیصلې ده	هغه	چې وئ تاسو	په دې سره	چې دروغ به مو ګنړله
داهم هغه د فیصلې ورځ ده	چې تاسو به دروغ ګنړله	ظالمان خلق او دهغوی ظالمان		
الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	وَاَزْوَاجَهُمْ	وَمَا كَانُوْا	
هغه کسان	چې ظلم نې کړې دې	او ښځې ددوئ	او هغه (معبودان) چې وۀ دوئ	
ملګری او دهغوئ معبودان ټول راجمع کړئ	چې دالله ﷻ نه بغیر به نې			
يَعْبُدُوْنَ۝	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	فَاهْدُوْهُمْ	اِلٰى صِرَاطِ	
چې عبادت به نې کولو دهغوئ	ماسوا دالله نه	پس سیده کړئ دوئ	لارې	
دوئ عبادت کولو	.....	اوبیا دوئ دوزخ په لار روان کړئ		
الْجَحِيْمِ۝	وَقِفُوْهُمْ	اِنَّهُمْ	مَّسْئُوْلُوْنَ۝	مَا لَكُمْ
ددوزخ ته	او ودروی دوئ	بیشکه دوئ چې دی	تپوس کیدې شی ددوئ نه	څه اوشو تاسو لره
او دوئ اودروئ دودئ نه به یوه پوښتنه کیږی	.....	چې تاسو باندې څه اوشو چې		

(۱) الطبری: ۱۹/۲۱.

Scanned with Ca

لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿۲۵﴾	بَلْ هُمُ الْيَوْمَ	مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿۲۶﴾
چې نه کوئ امداد دیو بل | بلکه دوئ خو نن ورځ | ځان پخپله حواله کونکی دی |		
دیوبل مدد نه کوئی | بلکه دوئ ټول به په دغه ورځ دشرم نه ټیټ سرونه ولاړوی |		

قوله تعالی:: وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا

دقیامت دورځې چغې: دقیامت په ورځ دکافرانوپه خپلوعملونوباندې ملامته کیدلواودافسوس بیان دی.چه هغوی به بښیمانه شی اودقیامت ویره ونکی کارونوته کتلوسره به وانی چه هاې هاې دا خو د جزا ورځ ده.نومومنان اوفرښتې به ورته دغصې په حالت کښی وانی چه اوهم داخودفیصلې ورځ ده کومه چه به تاسورښتونې نه منله.په هغه ورځ به دالله تعالی دطرف نه فرښتوته حکم وی چه ظالمان،دهغوی جوړې،دهغه رونړه اودهغوی په شان خلق یوځاې ته راجمع کړئ بیادوی ټولوته ددوزخ لاراوښایئ.څنګه چه فرمان دی.﴿وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ﴾ یعنی هغوی به پرمخې راندې،کانړه جمع کړو اوبیا به دهغوی ځائې دوزخ وی،چه دهغې اوربه کله روښی نومونړبه هغه بیا تیز کړو اوهغوی ددوزخ خواه کښی لړوخت دپاره اودروئ،چه مونږدهغوی نه څه تپوسونه اوکړو.

د هغوی نه حساب واخلو.

قوله تعالی:: اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

ابن ابی حاتم کښی دی چه حضورﷺ فرمائی چه یوکس څوک دکوم کارطرف ته رابلی هغه به دقیامت په ورځ دهغه سره ولاړوی.نه به بې وفائی وی اونه به جدائی وی.اګرکه چه هم یوئې راغوښتې وی.بیاحضورﷺ هم ددې ایت تلاوت اوفرمائیلو.(۱)حضرت عثمان بن زائدهؓ فرمائی چه د ټولونه مخکښی به انسان نه دهغه دملګروباره کښی تپوس اوشی،بیابه دهغه تپوس اوشی چه ولې نن دیویل مددنه کوئ؟تاسوبه دنیاکښی وئیل چه مونږدیوبل سره یواودیوبل مددکونکی یو.دا خو څه بلکه دوی خونن اسلحې غورځولې دی.دالله تعالی فرمانبرداره جوړشوی دی.نه دالله تعالی دځه حکم خلاف کوی اونه کولې شی.نه دهغې بچ کیدیشی،اونه دهغه ځائې نه تختیدیشی.والله اعلم

وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ	عَلٰى بَعْضٍ	يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۷﴾	قَالُوْٓا	اِنَّكُمْ	
| او مخ به کړی خینی ددوئ | خینو ته اچی تپوسونه به کوی دیو بل نه|اوبه وائی|بیشکه تاسو چی یئ					
اویو بل ته به ګوری | او تپوسونه به شروع کړی | کشران به ورته وائی چې تاسو به په مونږ					
كُنْتُمْ	تَاْتُوْنَنَا	عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿۲۸﴾	قَالُوْا	بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا	
وئ تاسو | چی راتلئ به مونږ ته | دښی طرفنه | اوبه وائی (جواب) | بلکه نه وئ تاسو |					
باندې دښی طرف نه ډیر په زور کښې راتلئ | .....مشران به ورته جواب ورکړی | نه بلکه					
مُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۹﴾	وَمَا كَانَ لَنَا	عَلَيْكُمْ	مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ	بَلْ كُنْتُمْ	
پخپله ایمان راوړونکی | اونه ووٗ مونږ لره | په تاسو باندې | هیڅ زور | بلکه وئ تاسو |					
تاسوخو پخپله ایمان نه راوړلو|..... اوزمونږ خو په تاسو څه زور نه وو | .....خوتاسو					

---

(۱) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة والصافات :۳۲۲۸..

Scanned with Ca

قَوْمًا	طٰغِيْنَ ۝	فَحَقَّ	عَلَيْنَا	قَوْلُ رَبِّنَا ۖ	اِنَّا
قوم (خلق)	سرکشه	پس ثابته شوه	په مونږ باندې	خبره درب زمونږه	بیشکه مونږه
سرکشه خلق وئ	..... نو اوس په مونږ ټولو باندې دخپل رب فیصله ثابته شوه				اوس به مونږ
لَذَآئِقُوْنَ ۝	فَاَغْوَيْنٰكُمْ	اِنَّا كُنَّا	غٰوِيْنَ ۝		
خامخا څکونکی یو دعذاب	پس بې لارې کړئ مونږه تاسو	بیشکه وو مونږه	بې لارې پخپله		
ضرور (دعذاب) مزه اوځکو	بیشکه چې مونږ تاسو ګمراهۍ کړئ وئ	(خو مونږ) پخپله هم ګمراه یو			
فَاِنَّهُمْ	يَوْمَئِذٍ	فِى الْعَذَابِ	مُشْتَرِكُوْنَ ۝	اِنَّا كَذٰلِكَ	
پس بیشکه دوئ به	په دغه ورځ	په عذاب کښې	شریك وی	بیشکه چې مونږه همدارنګې	
نو دا ټول به په دغه ورځ په عذاب کښې شریک وی	مونږ داسې مجرمانو سره هم				
نَفْعَلُ	بِالْمُجْرِمِيْنَ ۝	اِنَّهُمْ كَانُوْٓا	اِذَا قِيْلَ	لَهُمْ	
کار کوؤ	دمجرمانو سره	بیشکه چې دوئ وؤ	کله چې به اووئیلې شو	دوئ ته	
دغه شان کوو	دوئ داسې خلق وو چې کله به ورته اووئیلې شو	چې د الله ﷻ نه بغیر			
لَآ اِلٰهَ	اِلَّا اللّٰهُ ۙ	يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝	وَيَقُوْلُوْنَ	اَئِنَّا	
چې نشته دې لائق دعبادت	مګر الله دې	نو دوئ به لونې کوله	اووئیل به نې	آیا مونږه	
بل معبود نشته	نو دوئ به تکبر کولو	..... او دابه نې وئیل چې آیا مونږ			
لَتَارِكُوْٓا	اٰلِهَتِنَا	لِشَاعِرٍ	مَّجْنُوْنٍ ۝	بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ	
پریښودونکی یو	دخدایانو زمونږه	دپاره دیو شاعر	لیونی	بلکه هغه راوړې دې حق	
دیولیونی شاعر په وینا خپل معبودان پریږدو !، بلکه دې پیغمبر یو ریښتونې دین راوړئ دې					
وَصَدَّقَ	الْمُرْسَلِيْنَ ۝				
او تصدیق نې کړې دې	درسولانو				
اود ټولو پیغمبرانو تصدیق کوی					

قوله تعالی:: وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

دکافرانوپه دوزخ کښې طبقې او یو دبل ملامته کول: کافران خلق به چه څنګه ددوزخ په طبقوکښې سوزی هم دغه شان به دقیامت په ورځ په یوبل باندې الزامونه هم لګوی. کمزوری خلق به زوراورخلقوته وائی چه مونږخوبه دستاسوحکم منولو،نن به تاسومونږدلږشان عذاب نه خلاص کړئ؟هغوی به وائی چه مونږخوپخپله دتاسوسره په دې دوزخ کښې سیزوو.الله تعالی پخپلو بندګانوکښې فیصلې کړی دی.اوپه نورو ځایونو کښې داسې نقل کړې شوی دی چه ضعیف خلق به کبرکونکوته وائی،بلکه تاسونه وئ نو مونږ به ضرورایمانداروو.هغوی به جواب ورکړی ولې مونږتاسودهدایت نه منع کړې وئ؟که تاسوپخپله بدکاره وئ.دوی به وائی چه دشپواوورځومکرووچه تاسوبه مونږته وئیل چه دالله تعالی سره کفراوکړئ اودهغه سره شریك جوړکړئ.عذاب لیدلوسره به دوی ټول ښیمانه شی خوخپل شرم به پټوی،ددې ټولو کافرانو په څټونوکښې به پرې واچولې شی.

Scanned with Ca

اودایقینی خبره ده چه هریوته به صرف دخپلو عملونوسزاملاویږی.نودلته داهم بیانیږی چه هغوی به خپلو مشرانواوسردارانوته وائی چه تاسوبه زمونږدښی طرف ته راتلئ.یعنی چه مونږه کمزوری اوکم حیثیت والاوو،اوتاسوته په مونږباندې ترجیح وه.نوتاسوبه مونږپه زورسره دحق نه واړولو.دابه د کافرانو ویناوی کومه به چه هغوی شیطان ته کوی.

قوله تعالی:: قَالُوْٓا اِنَّكُمْ كُنْتُمْ

دویم قول چې انسانان به پیریانو ته دا خبرې کوی:: داهم وئیلی شوی دی چه انسان به داخبره پیریانوته کوی چه تاسومونږدښه کارونونه منع کولواوبدوکاروته به موراضی کولو.گناه به موراته خائسته اوښه خودله،اونیکی به موراته گرانه اوسخته خودله. دحق نه به مومنع کولواوپه باطل باندې به موو راچولو. چه کله به دنیکئ خیال زمونږپه زړه کښی راغې نوتاسوبه په څه ناڅه مونږدهغې نه منع کړو. اسلام، ایمان، خوبئ،نیکئ،اوښه کارونونه تاسومونږمنع کړی یو.دتوحیدنه مولرې کړې یو. مونږ تاسوڅپل خیرخواه ګڼلئ،رازدارموجورکړې وئ،دستاسوخبرې به مومنلې اوتاسوبه موښه کسان ګڼلئ،ددې په جواب کښی به پیریان اوشیطانان چه دهرځومره عزت والااولوې خلق وو،جواب به ورکوی چه په دې کښی زمونږهیڅ قصورنشته،تاسوپخپله هم داسې وې،دستاسوزړونه به دایمان نه تختیدل، اود کفر طرف ته به ورتلل،مونږچه تاسوکوم څیزته رابللئ هغه څه حق څیزنه وو.نه دهغې په ښه والی باندې څه دلیل وو،خوچه دبرائی طرف ته مخکښی نه مائل وې،دستاسوپه زړونوکښی سرکشی اوبرائی وه په دې وجه باندې تاسوزمونږاومنل.اوس خوپه مونږتولوباندې دالله تعالی قول ثابت شوچه مونږیقیناًدالله تعالی عذاب خوړلووالایو.داغټ خلق به خپلووړوخلقوته،دحکم کونکی به خپلوتابعدارخلقوته وائی چه مونږخوپخپله هم خویدلی وو،مونږتاسوهم دخپل ضلالت طرف ته راوبللئ،اوتاسوپه منډه راغلئ اووایئ په دې کښی زمونږڅه قصوردې؟مونږپه تاسوباندې څه ظلم اوسختې خونه دې کړې؟ تاسو ولې زمونږخبره اومنله؟الله تعالی فرمائی،نونن داټول خلق ددوزخ په عذاب کښی شریک دی.هریودخپل خپل عملونوسزاتیروی.دمجرمانوسره مونږهم داسې کوو.

قوله تعالی:: اِنَّهُمْ كَانُوْٓا

ددوئ د دنیا حالت دا وو:: دوی دمومنانوپه شان دالله تعالی توحیدنه منلو،بلکه دتوحیدداوازنه به نې کبر اونفرت کولو.رسول الله ﷺ فرمائی چه ماته حکم اوکړې شوچه دخلقوسره جهاداوکړه.ترڅوچه هغوی **لااله الاالله**،،اووائی .چا چه دااووئیله هغه خپل مال اوخان بچ کړو.خواسلامی فرمان نه،دهغه دباطن حساب کتاب به الله تعالی کوی .(۱)دالله تعالی په کتاب کښی هم دغه مضمون دې،اودیوکبرکونکی قوم ذکردې.چه هغوی به دا کلمه نه وئیله.

په قیامت کښې د مختلفوڅلو رابلل او د هغوئ نه سوال:: ابن ابی حاتم اوابوالعلاءرحمه الله نه روایت دې،چه یهودیان به دقیامت په ورځ رااوبللی شی،اودهغوی نه به سوال اوکړې شی چه تاسوبه دنیاکښی دچا عبادت کولو؟هغوی به وائی چه دالله تعالی او عزیرعلیه السلام. هغوی ته به اووئیلی شی چه ښه ګس طرف ته راشئ، بیابه دنصرانیانونه هم دغه سوال اوکړې شی. هغوی به وائی چه دالله تعالی اوحضرت مسیحعلیه السلام،نوهغوی ته به هم دغه اووئیلې شی.بیابه مشرکان رااوغوښتلې شی اوهغوی ته به **لااله الاالله** اووئیلی شی نوهغوی به کبرکوی،دړې خله به هم داسې اوشی.بیابه حکم اوشی چه دوی هم ګس طرف ته راولئ فرښتې به دوی دمرغونه هم زربوخی.بیابه مسلمانان رااوغوښتلې شی اوهغوی ته به اووئیلی شی چه تاسودچاعبادت کولو؟دوی به وائی صرف دالله تعالی.دوی نه تپوس اوشی که تاسوهغه وینئ نوهغه پیژندلې شئ؟دوی به وائی اوادوی نه به تپوس اوشی چه تاسوهغه څنګه پیژندلې

---

(۱) ددې اصل صحیح بخاری کتاب الجهاد باب دعاء النبی ﷺ والنبوة: ۲۹۴۶، او صحیح مسلم: ۲۱ کښې موجوددې.

شئ اوهغه خوتاسوچرته لیدلې هم نه دې؟دوی به جواب ورکړی چه اوداتهیك ده مونږته پته ده چه دهغه برابرهیڅ څوك نشته.نوالله تعالی به خپل ځان هغوی ته اورسوی اوهغوی به بچ کړی.دوی به دتوحیداوشرك خلاف کلمه اوریدلوسره وئیل چه ددې شاعر اومجنون په وئیلوسره مونږدخپل معبودان پریږدو؟ منل خویوطرف ته،التّه به ئې حضورﷺ ته شاعر او دیوانه وئیل.نوالله تعالی هغوی ته دروغژن وانی اودهغوی په تردیدکښی فرمائی چه حضورﷺ خو بالکل رښتونې دې.رښتیانې راوړی دی ټول شریعت ئې حق دې.که خبرونه وی اوکه حکمونه وی،دې ټول رسولان هم رښتونی منی.اورسولانوچه کوم صفتونه اوپاکیانې دحضورﷺ بیان فرمائیلی دی هغه په حضورﷺ کښی په رښتیاموجودې دی.دې هم هغه حکمونه بیانوی کوم چه مخکښی نبیانو(علیهم السلام)بیان کړی دی.اوچه څنګه په ایت کښی دی.﴿مَا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ﴾ چه تاته هغه وئیلی کیږی کوم چه دستانه مخکښی نبیانوته وئیلی شوی دی.

إِنَّكُمْ	لَذَآئِقُوا	الْعَذَابِ	
بیشکه تاسو	خامخا څکونکی یئ	دعذاب	
.....تاسو ټول به د دردناک عذاب مزه اوڅکئ			
الْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾	وَمَا تُجْزَوْنَ	إِلَّا مَا	كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٩﴾
درد ناك	اونۀ درکړې کیږی بدله تاسو ته	مګر هغه	چی وئ تاسو
			چی کول به مو
اوتاسو ته زیاتی نه صرف ستاسو دخپل عمل بدله به درکولې شی			
إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ	الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾	أُولَٰئِكَ	لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾
ماسوادبندګانو دالله نه	اچی خالص کړې شوی دی	اهغوئ چی دی	ادې دهغوئ دپاره
			رزق معلوم
البته دالله مخلص بندګان به د عذاب نه بچ وی			اودوئ دپاره معلوم خوراکونه مقرردی
فَوَاكِهُ	وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿٤٢﴾	فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٤٣﴾	
میوې به وی	او هغوئ به په عزت سره ساتلې کیږی	په جنتونو دنعمتونو کښی	
قسم قسم میوې به وی	اوهغوی به د آرام په باغونو کښې ښه په عزت سره ناست وی		
عَلَىٰ سُرُرٍ	مُّتَقَابِلِينَ ﴿٤٤﴾	يُطَافُ عَلَيْهِم	بِكَأْسٍ
ناست به وی په تختونو باندې	یو بل ته مخامخ	ګرزولې کیږی به	په هغوئ باندې اپیالئ دشرابو
په تختونو به یوبل ته مخامخ ناست وی		د چینې د شرابو ډک ډک جامونه بۀ پرې ګرځولې	
مِّن مَّعِينٍ ﴿٤٥﴾	بَيْضَاءَ	لَذَّةٍ	لِّلشَّارِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا
دچینې نه	تك سپین خلیدونکی	خوند ناك به وی	دپاره دڅکونکو
			نۀ به وی په هغې کښی
شی	تک سپین به وی دڅکونکو دپاره د خوند نه ډک وی		.....نه به په کښی
غَوْلٌ	وَلَا هُمْ	عَنْهَا	يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾ وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ
څه ضرر	اونۀ به هغوئ	دهغې نه	بې عقله کیږی
			اووی به دهغوئ سره
			اښکته کتونکې حورې
سرخوږئ وی	اونه په عقل کښې نقصان راولی		او ورسره به دحیا نه ښکته کتونکې د غټو غټو

Scanned with Ca

عِيْنٌ ۝ لا	كَاَنَّهُنَّ	بَيْضٌ	مَّكْنُوْنٌ ۝
غټوغټو سترګو والا | داسې نازکې لکه چې هغوئ | اګې دی | پټې ساتلې شوی |			
سترګو والا ښځې وی | .....لکه چې په پرده کښې محفوظ اګئ پټې پرتې وی |			

قوله تعالی:: اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ۝

کافران په عذاب اومومنان په نعمتونو کښې : الله تعالی ټولوخلقوته فرمائی چه تاسودپاره دردناك عذاب دی.اوصرف دهغه څیزبدله به تاسوته ملاویږی کوم چه تاسودلته کوی.بیاخپل مخلص بندګان ئی دهغې نه بیل کړی،والعصرکښې فرمائی چه ټول انسان په نقصان کښې دی خوایماندار،نیك عملونو والا نه دی،اوپه سورة والتین کښې فرمائی مونږ انسان په ډیرښه حالت کښې پیداکړو،بیاموهغه د لاندینونه هم لاندې کړو.خوچه چاایمان راوړو، اوچه چانیك عمل اوکړو.اوپه سوره مریم کښې فرمائیلی دی. ﴿وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا﴾ تاسوکښې به هریودوزخ ته ځی،داخوستاسورب فیصله کړې ده،اوداضروری څیزدې،خوبیابه زه متقیان خلاص کړم،اوظالمان به پکښې پریږدم.په سوره مدثرکښې ارشاددی،**کل نفس بما کسبت رهینة** هرکس په خپلوخپلوعملونوکښې مشغول دی،خوهغوی چه دهغوی په ښی لاس کښې عملنامه راغله،دلته هم دخاص بندیانوخلاصی یادکړې شوه چه دعذابونونه،دحساب سخت تکلیفونونه بچ دی.بلکه دهغوی بدې ئې معاف کړې،اودهغوی نیکیانې ئې لس چنده زیاتې،بلکه اووسوه چنده زیاتې کړې.دهغوی دپاره مقررزق دی،اوقسما قسم میوې دی.دهغوی به خدمت کیږی،عزت به ئې وی اواکرام به ئې وی.هغوی ته هرځوك هرکلې وائی،ډیرعزت به ئې وی،لوې عزت ادب به ئې ساتلې کیږی،دوی به دنعمتونونه ډك جنت کښې وی.دهغه ځائې په تختونوباندې به داسې ناست وی چه دچاشابه چاته نه وی.

قوله تعالی:: مُّتَقٰبِلِيْنَ ۝

ددې متعلق یو حدیث :: په یوغریب حدیث کښې دی چه ددې ایت دتلاوت نه پس حضورﷺ اوفرمائیل، د هر یو نظرونه به په بل باندې پریوځی،یوبل ته به مخامخ ناست وی.دهغه شرابو دوران به وی کوم چه به بهیږی.چه دهغې دختمیدو یاکمیدوبه څه ویره نه وی.چه هغه په ښکاره اودننه خائسته دی،په هغې کښې خوبیانې دی خرابیانې پکښې نشته.درنګ نه سپین،په خوندکښې ډیرمزیدار،نه بیادهغې څکلوسره په سر درد کیږی ،نه به پرې مستی راځی اونه جنون، ددنیاپه شرابوکښې خرابی چه دخیټې درد،دسردرد،بې هوشی اوبدحواسی وغیره پیداکوی،خودجنت په شرابوکښې به دایوه خرابی هم نه وی.په کتلوکښې خائسته، څکلوکښې مزیدار،ډیرې فائدې،په سروراومستئ کښې اعلی،خوعقل اوپوهه ختمولو والا نه،نه خراب بوئی والااونه خراب رنګ والا،بلکه خوشبودار،خائسته رنګ،خائسته ذائقه،اوفائده ورکونکی.ددې څکلوسره به په خیټه کښې نه دردکیږی،اوزیات والې ئی نقصان ده نه دی.په طبیعت سازدی،سرنه درنوی،چکرنه راولی،ګرانی نه جوړوی،هوش اوحواس نه ورکوی،څه تکلیف نه پیدا کوی،قې اودستونه نه پیداکوی.

د شرابوځلور خرابئ::حضرت ابن عباسؓ فرمائی چه په شرابو کښې څلورخرابئ دی،①نشه ②دسر درد ③قې④ متیازې. خو دجنت شراب به ددې ټولوخرابیانونه پاك وی.اولولئ سوره الصافات . د هغوی سره به دښکته نظرونو والا، شرمیدونکی نظرونووالاپاکدامنې حورې وی چه دهغوی نظرونه د خپل خاوندانودمخ نه بغیرپه بل څه باندې نه دی لګیدلې اونه به اوغورځیږی.غټې غټې،خائسته سترګې،حسن اوصورت،حسن اوکردار دواړه څیزونه په هغوی کښې موجوددی.څنګه چه زلیخاپه حضرت یوسفؑ کښې دواړه څیزونه یوخائې اولیدل،ښځوهغې ته خبرې کول شروع کړل،نوهغې یوه

ورځ ټولې ښځې جمع کړې او حضرت یوسف علیه السلام ئې جوړ راجوړ کړواو را وئې غوښتلو ټولې ښځې دهغه حسن ته کتلوباندې مدهوشه شوې اواوئې وئیل داخوفرښته ده،زلیخاووئیل،چه هم داهغه کس دې دچاباره کښې چه تاسوماملامته کوئ،والله دې ماځان ته په هره طریقه باندې مانله کړو،خوپاکدامنه دې.دبهرحسن سره دننه حسن هم لرې.ډیرپاکباز،امین،پارسا،متقی اوپرهیزګاردې،هم دغه شان حورې هم دی،چه دښکاره حسن سره په هغوی کښې دننئ خوبیانې هم شته.بیادهغوی نورحسن بیانیږی.چه د هغوی سپین سپین بدن، سور سپین رنګ داسې پرقیدونکې اوخانسته دې لکه محفوظ ساتلې شوې ملغلره ،چه هغې ته دچالاس نه وی رسیدلې،چه هغه دسیپې نه نه وی وتلې،چه په هغې باندې د دنیا هوانه وی لګیدلې.چه هغه په خپل حسن کښې بې مثاله وی.هم دغه شان دهغوی پنډې دی.داهم وئیلی شوی دی چه دهغئ په شان دی دهغئ برنی پوستکی نه لاندې پوستکی په شان دهغوی بدن دې.

یوحدیث کښې دحضرت ام سلمه رضی الله عنها دسوال په جواب کښې حضور ﷺ اوفرمائیل چه "حورعین" نه مراد دغټو سترګووالا،توروبانړووالاحورې دی.بیائې تپوس اوکړو"بیض مکنون"نه څه مراددی؟اوئې فرمائیل دهگئ دننه سپین پوستکې(۱).ابن ابی حاتم کښې دی چه رسول الله ﷺ به فرمائیل چه کله به خلق دقبرونونه راپاسولی شی،نودټولونه مخکښې به زه راپاسولې شم،چه کله به هغوی دالله تعالی مخکښې حاضرولې شی نوزه به دهغوی خطیب یم،اوچه هغوی به کله خفه وی نوزه به هغوی ته زیری ورکوم،اودهغوی سفارشی به یم.اودوی به منع کړې شوې وی اودحمدجنډه به هغه ورځ زماپه لاس کښې وی.دحضرت ادم علیه السلام په اولادکښې دټولونه زیات اکرام اوعزت والازه یم،زه دفخردپاره نه وایم، زمانه مخکښې روستوبه دقیامت په ورځ زرخادمان ګرځی.چه هغوی به دپټې هګویابې مثاله ملغلرو په شان وی.والله اعلم بالصواب.

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ	عَلٰى بَعْضٍ	يَّتَسَآءَلُوْنَ ۝	قَالَ	قَآئِلٌ	مِّنْهُمْ
بیا به مخ کړی ځینی دهغوئ	ځینوته	اچی تپوسونه به کوی دیو بل نه	اوبه وائی	ایوویونکې	دهغوئ نه
بیا به دهغوئ به یو بل ته مخامخ شی		او تپوسونه به کوی	.....	یوکس	به په کښې اووائی

اِنِّیْ كَانَ	لِیْ	قَرِیْنٌ ۝	يَّقُوْلُ	اَئِنَّكَ	لَمِنَ الْمُصَدِّقِیْنَ ۝
بیشکه زهٔ چی وم	اوؤ ملګری	یو ملګری	اچی وئیل	به ئې	ایا ته (هم) تصدیق کونکونه ئې ددوباره ژوند
چې زما یو ملګرې وو			هغه به ماته وئیل	چې ایا ته هم دقیامت په ورځ تصدیق کوې؟	

ءَاِذَا	مِتْنَا	وَكُنَّا	تُرَابًا	وَّعِظَامًا	ءَاِنَّا
ایا کله چی	مړه شو مونږه	او شو مونږ	خاورې	او هډوکی	ایا مونږه لره به
ایاکله چې مونږ مړۀ شو			اوښاورې هډوکی شو		نوایا مونږ ته به بدله راکولې شی

قَالَ	هَلْ اَنْتُمْ	مُّطَّلِعُوْنَ ۝	فَاطَّلَعَ	فَرَاٰهُ	
اوبه وائی هغه	آیا تاسو	لیدل غواړئ (هغه منکرلره)	بیا سراوچت کړو هغه	پس وې لیدو هغه	
ورته به اووئیلې شی	چې تاسو (هغه ته) ښکته کتل غواړئ		نو هغه به اوګورئی		

(۱) الطبری: ۴۴/۲۱.

فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۵۵﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ﴿۵۶﴾

په منځ ددوزخ کښې | وې وئيل | قسم دې په الله | قريبه وه چې تا | خامخا تباه کړې وم زه

اوخپل ملګرې به د دوزخ په مينځ کښې بيامومئ | دې به اووائی چې قسم دې په الله تاخو زه تباه کولم

وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿۵۸﴾

که چری نه وې فضل |درب زما|نو خامخا وم به زه |حاضرکړې شوونه (دوزخ ته| آيا پس نه يو مونږه

اوکه په ما دخپل رب فضل نه وې شوې|نوزه به (لکه ستا) راګيرشوې ووم|آيا(داسې نه ده چې) مونږ به بيانه مرو؟

اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۵۹﴾

مړه کيدونکی | مګر مرګ زمونږه | پرومبنې (تير شوې) | اونه يو مونږه | عذابيدونکی

سوا(ددنيا) د پرومبی مرګ نه | اونه به راته چرې عذاب راکولې شی ؟

اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۰﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ

بيشکه دا (انجام) | خامخا دا کاميابی ده لويه | دپاره دداسې کاميابئ | پکار دی چی عمل اوکړی

بيشکه دادېره لويه کاميابی ده | .....هم دداسې کاميابئ دپاره عمل کونکو

الْعٰمِلُوْنَ ﴿۶۱﴾

عمل کونکی

دپاره عمل کول پکار دي

قوله تعالی:: فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۵۰﴾

جنتيان به ددنيادژوندذکرکوی: کله چه به دجنت خلق په مزواوبې فکروکښې اواوزګارتياکښې دجنت په محلونو کښې ديويل سره په عيش اوعشرت سره تختونوباندې ناست وی،په زرګونوخائسته اوذهينې خدمت ګاري به دهغوی خدمت کوی.پاک شراب به څکلې کيږی.هلته به په خبروخبروکښې داذکراوشی چه په دنياکښې څنګه حال تيرشوی دې،ورځې څنګه تيرې شوې دی؟په دې باندې به يوکس وانی چه زما واوری،زمايوشيطان مشرک ملګرې وو،چه هغه به ماته اکثروئيل چه تعجب دې په تاباندې،چه ته دا خبره منې چه کله مونږ دمرګ نه پس په خاوره کښې خاوره شو،مونږبه خالی،خراب شوې هډوکی شو، بيا به دحساب کتاب اوسزاجزادپاره راپاسولې شو،هغه کس خوماته جنت کښې په نظرنه راځی،څه عجيبه به نه وی که هغه دوزخ ته تلې وی،که تاسوغواړئ نوماسره ئې په دوزخ کښې حال ليدلې شئ چه دهغه سره به څه کيږی؟کله چه به هغه ته ګوری نووينی چه هغه کس دسرنه خپوړې سوزی، پخپله هغه نه اورجوړشوې دې.ددوزخ په مينځ کښې ولاړدې،اوبه بې بسې سره يوخوا بل خوا ګوری، اودغه يوبه څه وينی بلکه هغه به ګوری چه ټول لوی لوی خلق په دوزخ کښې دی.

جنتيان چې اوغواړی نو جنت نه به جنتيان ليدې شی:: کعب احبار رحمه الله فرمانی چه جنتيان خلق چه کله غواړی هغوی دوزخيان کتلې شی.هغوی به خپل دښمنان په اور کښې سوزيدوباندې ليدلوسره خوشحاليږی جنتی به دهغه ليدلوسره هغه ته وائی چه جناب تاخو تباه کړې ووم،خودالله تعالی شکر دې چه زه هغه دستانه خلاص کړم،که دالله تعالی فضل اوکرم په ماباندې نه وې،نوزماحال به هم ډير خراب وو.اوزه به هم دستاسره دې دوزخ ته راغلې ووم.اوسوزيدم به.دالله تعالی شکردې چه زه هغه د ستا

Scanned with Ca

دپستوپستوخبرونه اوساتلم.اودستااثرنه ئې زه محفوظ اوساتلم .تاپه غلط کارونوکښې څه کمې نه وويريخودې.اوس مومن يوه خبره بله کوی چه په هغې کښې دهغه دخوشحالي اوکاميابي خبردې،چه هغه يوځل خوپه دنياکښې مړشوې وو،نه اوس ده دپاره مرګ شته اونه دعذاب اووبال ويره،اوهم دابهترينه اودهميش والی کاميابی ده.دحضرت ابن عباسؓ فرمان دې چه جنتيانوته به اووئيلی شی چه دخپلوعملونوپه بدله کښې بنې مزې اوکړئ.په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چه جنتيان به په جنت کښې نه مری.دې اوريدلوسره به هغوی وائی چه مونږته به دلته مرګ نه راځی؟عذاب خوبه راته نه راکړې کيږی؟نوجواب به ورته ملاؤشی نه بالکل نه. هغوی ويريدل چه چرته مرګ دهغوی نه تولې مزې وانخلی.چه کله داويره ختمه شوه نوهغوی په سکون ساه واخستله.شکردې داخوکاميابی ده اولوې مقصدحاصليدل دی.ددې نه پس ئې اوفرمائيل دداسې کاميابۍ حاصلولودپاره عاملانوته عمل کول پکاردی.

قتادهؒ خوفرمائی چه دادجنتيانوقول دې.امام ابن جريرؒ فرمائی دالله تعالی دفرمان نه مطلب دادې چه ددې نعمتونواورحمتونوحاصلولودپاره خلقوته په دنياکښې په زياتې مينې سره عمل کول پکاردی،چه هغوی ته هم دانعمتونه حاصل شی.(۱)

ددې ايت مضمون سره يوشان يوه قصې هم اولولئ.دوه کسان خپلوکښې شريک وو،هغوی سره اته زره اشرفۍ جمع شوې،يوخوپيشه ور او کسب ګر وو،اوهغه ته دځيزونوپته وه،اوبل ناواقفه وو،په دې وجه واقف کس دې ناواقفه کس ته اووئيل،چه اوس زمونږکذاره ګرانه ده.ته خپل حق واخله اوبيل شه،ته د کارروزګارنه ناواقف ئې.نودواړوخپلې حصې بيلې کړې اوجداشول.بيادهغه کسب والاکس دبادشاه دمرګ نه پس دهغه محل په زرديناره باندې واخستلو،اوخپل ملګری ته ئې اوخودلو،اوئې وئيل وايه کنه څنګه ځيزمې اخستلې دي؟هغه ئې تعريف اوکړواودهغه ځائې نه بهرته لاړو.الله تعالی نه ئې دعااوکړه اواوئې وئيل!ائې الله!زمادې ملګری په زرديناره باندې ددنيامحل واخستلو،اوزه دستانه داخرت محل غواړم.زه دستاپه نوم باندې په غريبانانوکښې دازرديناره تقسيموم.نوهغه زرديناره دالله په لارکښې خرچ کړې.بياهغه دنيادارسړی څه وخت پس زرديناره خرچ کولوباندې خپله نکاح اوکړه.په دعوت کښې ئې هغه خپل زورملګرې هم رااوغوښتلواوورته ئې اووئيل چه زرديناره باندې مادې ښځې سره واده اوکړو،هغه دهغې هم تعريف اوکړو.بهرئې دالله په لارکښې زرديناره ورکړل اوعرض ئې اوکړوياالله!زمادغه ملګری هم دغه دينارونه خرچ کړل اوپه دنياکښې ئې پرې ښځه حاصل کړه اوزه دستانه حورعين غواړم.اوبيائې هغه پيسې صدقه کړې.بياځه وخت پس هغه دنيادارکس دې راوغوښتلو اوورته ئې اووئيل چه په دوه زره دنياره باندې مادادوه باغونه اخستلی دی.اوکوره څنګه دی؟ هغه ئې ډيرتعريف اوکړواوبهرئې دخپل عادت مطابق دالله تعالی په دربارکښې عرض اوکړو اې الله!زمادې ملګری خوپه دوه زره دينارې باندې دلته دوه باغونه واخستل اوزه دستانه په جنت کښې دوه باغونه غواړم اودادوه زره دينارونه دستاپه نوم صدقه کوم.نوهغه پيسې په غريبانانوکښې تقسيم کړې بياچه کله هغوی دواړه وفات شول.داصدقې کولووالاکس يې دجنت محلونوته بوتلو،چه هلته ورته يوه خائسته ښځه ملاؤشوه،اودوه باغونه ورته هم ملاؤ شول،اوهغه نعمتونه ورته ملاؤشول کوم باره کښې چه هغه دالله تعالی نه علاوه څوک نه پيژنی.نوهغه ته هغه وخت خپل ملګری رايادشو فرښتې ورته اووئيل چه هغه خوپه دوزخ کښې دې.که ته غواړې نوهغه ته کتلې شې،هغه چه کله هغه په دوزخ کښې

---

(۱) الطبری : ۵۲/۲۱.

په سوزیدواولیدلو،نوهغه ته ئې اوونیل چه نزدې وه چه تاماته هم دهوکه راکړې وه اوداخودالله تعالی مهربانی وه چه زه بچ شوم.(۱)

اوپه روایت کښی دی چه درې زره دیناره وو،یوکافروواوبل مومن وو.کله چه دې مومن خپلې پیسې دالله په لارکښی خرچ کړې نوپه سر ئې څادرواچلواوکودالله بیلچه ئې واخستله اومزدورئ ته لاړو،هغه ته یوکس ملاؤ شواوورته ئې اوونیل که ته زماځناورلشې،اودهغوی سوتې صفاکوې نوزه به تاته دځکلودپاره پیسې درکوم.هغه اومنله اودهغه سره کارته لاړو.خوداکس ډیربې رحمه اوبدګمانه وو،چه هغه یوخناوربیماریاکمزورې اولیدونو د غریب نوکربه ئې څټ ماتولواوهغه به ئې وهلو،اوونیل به ئې چه ته ددوی نه خوراك پتوې.دې مسلمان داسختی برداشت نه کړې شوه نویوه ورځ دده په زړه کښی خیال راغې چه زه دهغه خپل شریك کافرته لاړشم،دهغه پتی اوباغونه دی.زه به هلته کارکوم اوهغه به ماته ډوډې راکوی،نورزماځه پکاردی؟هغه چه هلته اورسیدونودهغه حالت شان شوکت ئې اولیدل نوحیران شو.یولوې محل وو،دربان اوپهره دارپه ولاړوو،څوکیدران،غلامان اووینزې ټول وو.دې ویریدواودرباریانودې اونیولو.ده ورته ډیراووئیل چه تاسوخپل مالك ته زماذکراوکړئ.هغوی اوونیل اوس وخت نه دې.ته یوطرف ته پریوځه،چه کله سحرکښی هغه راوځی نوته ورته سلام اوکړه.که ته رښتونې ئې اوهغه اوپیژندلې نوصحیح ده ګنی مونږدتاسره اوګورو.هغه مسکین هم داسې اوکړل، د کمبل ګومه ټکړه چه هغه دبدن نه تاوکړې وه هغه ئې په ځان واچوله،اویوطرف ته سملاستو.دسحرپه وخت کښی دهغه په لارکښی اودریدو.چه کله هغه راووتلونوپه حیرانتیاسره ئې ورته اووئیل داڅه حالت دې جوړشوې دې مال دې څه شو؟هغه اوونیل بس تپوس مه کوه!داوخت چه زماڅه کاردې هغه پوره کړه،یعنی ته ماته موقع راکړه چه زه ستاپه پتوکښی دنورومزدورانوپه شان کارکوم اوته ماته په بدله کښی ډوډې راکوې اوچه کله مې داکمبل زوړشی نوماته یوه بله کمبل واخلې.هغه اووئیل نه نه زه به تاسره ددې نه ښه سلوك کوم.خوته مخکښی داووایه چه هغه پیسې دې څه کړې؟جواب ئې ورکړوچه ماهغه پیسې یوکس ته قرض ورکړې،هغه تپوس اوکړوچه څنګه؟داسی کس ته چه هغه واپس کولوباندې انکارهم نه کوی اونه دورکولونه انکارکوی.هغه اووئیل چه داڅوك دې؟هغه اووئیل چه هغه الله تعالی زمااوستارب دې.دې اوریدوسره کافردمسلمان نه خپل لاس خلاص کړو،هغه ته ئې اووئیل لیونیه! داهم کیدیشی چه کله مونږمړه اوخاورې شونوبیابه ژوندی شواوالله تعالی به مونږته بدله راکړی؟خه چه ته دومره ساده نی اوستاداسې عقیده ده نوبیازماتاسره هیڅ څه تعلق نشته.نوهغه کافرخومزې کولې.اودې مومن په سختئ سره ورځې تیرولې.تردې چه دواړه مړه شول.مسلمان ته چه په جنت کښی کوم نعمتونه اورحمتونه ملاؤشول هغه دشمار اواوندازې نه بهروو.هغه چه اولیدل چه دټولې دنیازیات باغونه دی اووني دی اوخائې په خائې نهرونه دی،نوتپوس ئې اوکړودادچادپاره دی؟جواب ورته ملاؤشوچه داټول هرڅه دستادپاره دی.اوئې وئیل سبحان الله!داخودالله تعالی لوبه مهربانی ده.اوس چه لږمخکښی لاړونودومره زیات غلامان اووینزې دی چه شمارلې کیدې نشی تپوس ئې اوکړوچه دادچادپاره دی؟ورته اووئیلی شوچه ټول دستادپاره هغه نورهم حیران اوخوشحاله شو.بیاچه مخکښی لاړونودسرویاقوتومحل ورته ښکاره شو.دیوملغلرې نه جوړمحل اوپه هریومحل کښی ډیرې حورعین،ورسره ورته خبراوشوچه داستادی،هغه بیانورهم خوشحاله شو.اوئې وئیل چه زماهغه کافردوست به څنګه اوچرته وی؟ الله تعالی به هغه ته اوښائی چه هغه به په دوزخ کښی سوزی.اوس به دوی کښی دوه خبرې اوشی دکوموذکرچه دلته شوې دې،بس په مومن باندې په دنیا کښی سختئ راتلې،هغه به دې یادوی نودمرګ نه غټه سختی به هغه ته بله نه ښکاری.

---

(۱) الطبری : ۵٤/۲۱.

Scanned with Ca

اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿۶۲﴾
ا آیا دا خیر ا بهتره دي ا په لحاظ دمیلمستیا سره ا او که ونه دزقوم
ا آیا دا میلمستیا بهتره ده ا اوکه د زقوم ونه ؟
اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۳﴾ اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ
مونږه جوړه کړی ده دا ونه ا یوه فتنه ا دپاره دظالمانو ا بیشکه داونه ده ا چی رااوځی
مونږ دغه دظالمانو دپاره د عذاب یوه فتنه جوړه کړې ده ا دغه یوه داسې ونه ده ا چې د
فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ﴿۶۴﴾ طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ ﴿۶۵﴾
په مینځ ددوزخ کښی ا غنچې ددې داسې دی ا لکه چی هغه ا سرونه دی ا دشیطانانو
دوزخ په ویخ کښې راتوکیږی ا دهغې غونچه داسې ده لکه د مارانو چجې
فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا
پس بې شکه هغوئ ا خامخا خوړونکی دی ا دهغې نه ا پس ډکونکی دی هغوئ ا دهغې نه
نودوئ بهٔ دهغې نه خوراک کونکی وی ا او هم د هغې نه به خیټې ډکونکی وی
الْبُطُوْنَ ﴿۶۶﴾ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا
خیټو خپلو لره ا بیا ا بې شکه ا هغوئ لره به ا په هغې دپاسه ا خامخا یو خانې کیدل وی
.....بیا ورته د هغې دپاسه ویشدلې خړبوژنې اوبه ورکولې شی
مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۶۷﴾ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِ اِلَى الْجَحِيْمِ ﴿۶۸﴾ اِنَّهُمْ اَلْفَوْا
داوبو ګرمونه ا بیا بې شکه ا واپس دهغوئ به ا خامخا دوزخ ته وی ا بیشکه دوئ ا او موندل
.....بیا به دوزخ طرف ته د دوی واپس ګرځیدل وی ا بیشکه دوئ خپل مشران
اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ ﴿۶۹﴾ فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ﴿۷۰﴾
پلاران خپل ا ګمراهان ا پس دوئ ا په نقش قدم دهغوئ باندې ا منډې وهی ا
ګمراه موندلی وو ا نو دوئ هم د هغوی په قدمونو باندې منډې وهلې ا

قوله تعالی:: اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿۶۲﴾

دزقوم ونه: دجنت دنعمتونودذکرنه پس ارشادفرمائی چه اوس دې خلق په خپله فیصله اوکړی چه هغه خانې اوهغه نعمتونه ښه دی یادزقوم ونه چه هغه به ددوزخیانوخوراك وی.ممکنه ده چه ددې مطلب خاص یوه ونه وی اوپه ټول دوزخ باندې خوره وی.ځنګه چه دطوبی ونه ده،چه هغه دجنت یویومحل ته رسیدلې ده اوداهم ممکنه ده چه دزقوم یوه ونه ئې مطلب وی.ددې تائیدپه دې آیت ﴿لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ﴾ نه هم کیږی.مونږهغه دظالمانودپاره فتنه جوړه کړه.حضرت قتاده رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه دزقوم دونې ذکر دګمراهانودپاره فتنه شوه.هغوی اووئیل نورهم واوره.په اورکښی ونه؟اورخوونه سیزی،دانبی وائی چه په دوزخ کښی به ونه راخیژی،نواللہ تعالی اوفرمائیل،اوداونه به په اورکښی پیداکیږی اوددې خوراك به اوروی.ابوجهل ملعون به په دې خندل،اووئیل به ئې چه ښه په مزې سره کهجورې اوکوچه

Scanned with Ca

خوري. ددي نوم زقوم دي.نوداهم يوامتحان دي ښه خلق ددي نه ويريدل اوخراب خلقودي پوري خنداوکړه. څنګه چه فرمان دي.﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيٓ أَرَيْنَٰكَ﴾ يعنى مونږچه تاته څه اوخودل هغه صرف ددي دپاره چه دهغوى ازمينبت اوشى،اوپه دي وجه موددي نامبارکي ونې ذکراوکړو.مونږخوهغوى ويرو، خو دوى په نافرماني کښى نورهم زياتيږى.ددي ونې اصلى جړه دوزخ دي،ددي پانړې،اوښاخونه غونچې خطرناکې ويرونکې،اوږدي،اولري لري پوري خورې دشيطانانود سرونوپه شان دى.اوشيطان هم چانه دي ليدلي،خودهغه نوم اورى دهغه دبدشکلئ اوخباثت منظرمخې ته راخى.چه په ليدو اوځکلو کښى دظاهراوباطن نه خراب ځيزدي.داهم وئيلى شوى دى چه دمارانويوقسم دي چه خوفناک اوخراب شکل والادى.اويوقول داهم دي چه دبوتويوقسم دي چه هغه ډيرخراب خوريږى.خودادواړه خبرې صحيح نه دى.خبره هم هغه ده کومه چه مونږمخکښى بيان کړې ده.هم دي بدشکله،څخه مزې والا،اوخراب اثروالازقوم به دوى دمجبورئ نه خورى.اوپه زوربه دوى باندې خوړلې شى چه هغه پخپله يوزبردست عذاب دي.اوپه ايت کښى دى.﴿ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ﴾ دهغوى خوراك به هلته صرف دازغووالازقوم وى چه هغه به نه دوى غټولې شى اونه به ددوى ولړه ختمولې شى.حضور ﷺ يوځل دايت ﴿ اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ﴾ تلاوت اوفرمائيلو،چه که دزقوم يوه قطره ددنيايه سمندرکښى واچولې شى نوددنيادتولوخلقوخوراك به خراب شى.نودهغه به څه حال وى؟چه دهغه خوراك هم دغه وى([1]).(ترمذى وغيره)

قوله تعالى:: ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ

د زقوم خوراک: اوبياددي زقوم خوراك سره به دوى ته دځکلودپاره ددوزخ ويشيدلې اوبه ورکړې کيږى، يا ددغه دوزخى ونې سره به ددوزخ اوبه ملاوکړې شى اوپه دوى باندې خوړلې اوځکلې شى. دا ګرمې اوبه به هغه وى کومې چه به ددوزخيانودزخمونواوويني اوپيپ وغيره په شکل کښى راوتلې وى. او چه هغه به ددوى دسترګواوپټولاروباندې راوتلې وى([2]).حديث کښى دى چه کله به دااوبه ددوى مخې ته راوړې شى نودوى ته به سخت تکليف اورسى،اوډيره کرکه به ورته ورځى.اوچه کله به دادوى خولې ته نزدې يوړې شى نوددې لوړې به ددوى دمخ څرمن اوځيزى.اوچه کله دهغې ګوټ خولې ته لاړشى نودهغوى کولمې به کټ شى اودمتيازوپه لاربه بهرطرف ته راوځى([3]).(ابن ابى حاتم)

حضرت سعيدبن جبير رحمه الله فرمائى چه کله دوزخيان به دولړې شکايت اوکړى نوهغوى باندې زقوم اوخوړلې شى چه دهغې په وجه باندې به ددوى دمخ نه څرمن بالکل جداشى،داسې چه دهغه پيژندګلودهغه دمخ څرمن ته کتلونه پس وئيلى شى چه دافلانکى کس دمخ څرمن ده.بياچه به کله تږې شى نودوى به چغې وهل شروع کړى نودويلې شوې اوسپنې په شان ګرمې اوبه دوى ته ورکړې شى،چه هغه مخ ته نزدې کولوسره به دمخ غوښه اوسيزى.اوټوله غوښه به تږې رااوغورځيږى.اوپه خيټه کښى به کولمې کټ کړى.دبره نه به دوسپنې په څټکونوباندې وهلې شى.اودبدن نه به ئې يويوعضواوغورځيږى اودوى به چغې وهى.فيصله کيدوسره به ددوى خانې دوزخ وى.چه هلته به په دوى باندې مختلف قسمه عذابونه وى([4]).څنګه چه په بل ايت کښى دى.﴿ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ﴾ دوى په دوزخ اوداورپه شان ګرموابوکښى چکرونه وهى.دحضرت عبدالله رضي الله عنه قراءت دي."ثم ان مقيلهم لالى الجحيم"

---

[1]) ترمذى كتاب صفة جهنم باب ماجاء فى صفة شراب اهل النار:۲۵۸۵. وهوصحيح.

[2]) الطبرى : ۵٤/۲۱.

[3]) ترمذى كتاب صفة جهنم باب ماجاء فى صفة شراب اهل النار::۲۵۸۳. وسنده حسن.

[4]) الطبرى : ۵٦/۲۱.

Scanned with Ca

د حضرت عبدالله﷽ فرمان دي،چه په والله دنيمي ورځ نه به مخکښې دواړه خلق خپل خپل ځايونوته لاړشي اودغرمې قيلوله يعنې ارام به هلته کوی.قرآن وائی.﴿ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴾ چه دجنتيانودقيام او آرام ځائې ډيرښه دي،اودقيلولې وخت به دواړه په خپل خپل ځائې کښې کوی.دنيمې ورځ نه به مخکښې مخکښې دوی خپل خپل ځايونوته اورسی.په دې وجه باندې دلته دلفظ ثم خبرباندې دخبر دعطف دپاره وی.ددې بدله ده چه دې خلقوخپل پلارنيکه ګمراه ليدلې وو.خوبياهم دهغوی په طريقه باندې روان شول.اودمجبورانواوبې وقوفانوپه شان هغوی پسې روان وو.

وَلَقَدْ ضَلَّ					
او ګمراهه شوی وؤ					
..... او ددوئ نه					
قَبْلَهُمْ	اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ۙ	وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا	فِيْهِمْ	مُّنْذِرِيْنَ ۝	
مخکښې دهغوئ نه | اکثر ړومبنی خلق	| او ليږلی وؤ مونږ ه	په هغوئ کښې ايرونکی (خبردارونکی)			
وړاندې هم زيات پخوانی خلق ګمراه شوی وو | اومونږ هغوئ ته هم ويرونکی ليږلی وو					
فَانْظُرْ	كَيْفَ كَانَ	عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ۙ	اِلَّا	عِبَادَ	اللّٰهِ
پس اوګوره | څرنګې وؤ | انجام ديرولې شوؤ خلقو		| مګر بچ شوی دی | بندګان دالله			
نو ته اوګوره چې دهغه خلقو انجام څه شو ؟ | سوا دالله ﷻ د خاص					
الْمُخْلَصِيْنَ ۝ ع					
خالص کړې شوی |					
بندګانو نه (باقی نورټول هلاک شول)					

دنيکانو ښه انجام: په مخکښې امتونوکښې اکثرخلق ورکې لاروالاوو،دالله تعالی سره به شريک پيدا کول.په هغوی کښې هم دالله تعالی رسولان راغلل،کوموچه هغوی هوښيارکړل اوويرول اوورته ئې اوونيل چه دهغوی په شرک کفراورسول الله ﷺ پسې خندابانديې الله تعالی خفه دي،اوکه تاسوتهيک نه شوئ نوپه تاسويه عذاب راشی.چه بياهم هغوی دنبيانواونه منله اوخراب کارونه ئې پرې نه خودل. نو اوګورئ چه دهغوی انجام څه وو؟هغوی ئې تباه وبربادکړل.نيک اودالله والاخلق بچ کړی شول،اوهغوی ئې دعزت سره اوساتل.

وَلَقَدْ	نَادٰىنَا	نُوْحٌ	فَلَنِعْمَ	
او په تحقيق سره |	آواز اوکړو مونږ ته | نوح عليه السلام |	پس خامخا ښه	
| او نوح عليه السلام مونږ ته آواز اوکړو | نو مونږ ډير ښه فرياد				
الْمُجِيْبُوْنَ ۖ	وَنَجَّيْنٰهُ	وَاَهْلَهٗ	مِنَ الْكَرْبِ	
جواب ورکونکی يو مونږه | نو بچ کړو مونږه هغه | اوکور والا دهغه |			دمصيبت	
رس يو | او مونږ هغه اودهغه د کور خلقو ته د لوئې غم نه نجات ورکړو				

Scanned with Ca

الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾	وَجَعَلْنَا	ذُرِّيَّتَهٗ	هُمُ	الْبٰقِيْنَ ﴿٧٧﴾	وَتَرَكْنَا
لوئ نه	اواوګرځول مونږه	اولاد دهغه	اهم هغوئ	اباقی پاتي کیدونکی دی	اوپریښودومونږ صفت
.....	او صرف دهغه اولاد مو باقی پاتي پریخودل	.....			اود روستو راتلونکو خلقو
عَلَيْهِ	فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿٧٨﴾	سَلٰمٌ	عَلٰى نُوْحٍ	فِي الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٩﴾	
په هغه باندي	په روستو نسلونو کښی	سلام دي	په نوح علیه السلام	ددنیا په ټولو خلقو کښی	
دپاره مو دا واقعه پاتي پریخوده	.....	چې په ټول مخلوق کښې دي په هغه سلام وئیلې شی			
اِنَّا كَذٰلِكَ	نَجْزِي	الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٠﴾	اِنَّهٗ	مِنْ عِبَادِنَا	
بیشکه مونږه همدارنګې	بدله ورکوؤ	نیکانو خلقو له	بیشکه هغه	زمونږ دبندګانو	
مونږ نیکانو ته هم دغه شان بدله ورکوؤ	هغه زمونږ یو ایماندار بنده وو				
الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨١﴾	ثُمَّ اَغْرَقْنَا	الْاٰخَرِيْنَ ﴿٨٢﴾			
مومنانونه وو	بیا ډوب کړل مونږه	هغه نور خلق			
بیامونږ خلق (یعنی کافران) غرق کړل					

قوله تعالی:: وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ﴿٧٥﴾

دنوح علیه السلام واقعه او ددۀ قوم:: په مخکښنی ایتونوکښی دګمراه خلقوسرسری ذکروو،په دې ایتوکښی ئې تفصیلی ذکردې. حضرت نوح علیه السلام خپل قوم کښی نهه نیم سوه کاله وواوهغوی به ئې پوهه کول خودیوځوکسانونه علاوه قوم ئې په ګمراهي کښی وواوچاایمان رانورلوبلکه هغوی ته به ئې تکلیفونه ورکول.اخرالله تعالی رسول تنګ راغلو،اوالله تعالی ته ئې دعااوکړه ای الله‌ازه نورتنګ شوم ته زمامدداوکړې.دالله تعالی غضب په هغوی باندې نازل شو اوټول کافران ئې په اوبوکښی غرق کړل.نوفرمائی چه نوح چه کله تنګ شونوزماپه دربارکښی ئې دعااوکړه.اومونږ خودعاګانې قبلونکی یو.بس دهغه دعامې قبوله کړه.اوهغه تکلیفونه کوم به چه هغوی ته روزانه دکافرانونه رسیدل، مونږ ختم کړل.اوهم دهغه داولادنه مودنیابیاجوړه کړه خکه چه هم دهغه بچی پاتی شوی وو.حضرت قتاده رضی الله عنه فرمائی چه ټول خلق دحضرت نوح علیه السلام داولادنه دی.(۱) دترمذی په مرفوع حدیث کښی ددې ایت په تفسیرکښی دی چه سام،حام اویافث اولادبیاخورشول اوباقی پاتې شو.(۲)
مسندکښی هم دی چه سام دټولوعربوپلاردې،اوحام دټولوحبشواویافث دټولورومیانو.په دې حدیث کښی رومیانونه مراد رومې روم دې یعنې یونان،کوم چه درومی بن لیطی بن یونان بن نوح طرف ته منسوب دي.دحضرت سعیدبن مسیب رحمه الله ارشاددې.چه دحضرت نوح علیه السلام دیوځوی سام اولادعربی فارسی اورومی دی(۳).اود یافث اولادترکی،صقالبه،اویاجوج ماجوج،اودحام اولاد قطبی، سودانی، او بربری دی.والله اعلم.دحضرت نوح علیه السلام دښمن والی اودهغه نه روستو خلقوکښې ذکردخیر پس دالله تعالی

---

(۱) الطبری : ۵۹/۲۱.
(۲) ترمذی کتاب التفسیر القران باب ومن سورة الصافات:.
(۳) احمد: ۹/۵. ترمذی حواله سابق.: ۳۲۳۱.

Scanned with Ca

طرف نه ژوندي دي.دټولونبيانودربښتين ولې څه نتيجه وې،هروخت خلق په هغوی باندې سلام کوی،اودهغوی تعريفونه کوی(۱).په حضرت نوح عليه السلام باندې سلام،دالکه دراروانې جملې تفسيردي.
يعنی دهغوی ذکردښه والی نه روستوپاتې کيدودامطلب دې چه هرامت په هغه باندې سلام کوی.زمونږ دا سعادت چه کوم کس زمونږ عبادت اواطاعت دخلوص سره کوی نومونږهم دهغه ښه ذکرپه روستو خلقوکښې کوو.حضرت نوح عليه السلام ايمان اويقين اودتوحيدمنلووالاوو،اودحضرت نوح عليه السلام دخيردعوت قبلولو والوانجام ښه وو.خودنوح عليه السلام مخالف خلق غرق کړې شول.يوه ژوندې سترګه هم پاتې نه شوه. يو خبرراوړلووالاهم پاتې نه شواونښه قدرې نې پاتې نه شوه.اودهغوی بدې اوخرابياتې پاتې شوې چه د هغې په وجه باندې دمخلوق په خولې باندې دهغوی خراب ذکرهروختې وی.

وَاِنَّ	مِنْ شِيْعَتِهٖ	لَاِبْرٰهِيْمَ ۘ	اِذْ جَآءَ	رَبَّهٗ	بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ۘ	اِذْ قَالَ
او بيشکه	يو دډلې دهغه نه	خامخا ابراهيم وؤ	کله چې راغې هغه	رب خپل ته	په زړه سلامت سره	کله چې اووئيل هغه
اودهغه په طريقه روانوخلقو کښې		ابراهيم عليه السلام هم وو	چې رب ته په صفا روغ زړه متوجه شو	.....	څه وخت چې هغه خپل پلار	
لِاَبِيْهِ	وَقَوْمِهٖ	مَاذَا	تَعْبُدُوْنَ ۚ	اَئِفْكًا اٰلِهَةً		
پلارا خپل ته	او قوم خپل ته	داڅه څيزونه دی	چې تاسو ئې عبادت کوئ	آيا د دروغو خدايان		
اوخپل قوم ته اووئيل	چې تاسو دڅه څيزعبادت کوئی ؟	آيا د الله عزوجل نه سوا ځان دپاره د				
دُوْنَ اللّٰهِ	تُرِيْدُوْنَ ۝	فَمَا ظَنُّكُمْ	بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝			
بې دالله نه	غواړئ تاسو اپس څه دې ګمان ستاسو	په رب العالمين باندې				
دروغو معبودان لټوئ	نودرب العالمين په حق کښې ستاسو څه خيال دې					

قوله تعالى:: وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ ۘ
دحضرت ابراهيم عليه السلام ذکر: حضرت ابراهيم عليه السلام هم دنوح عليه السلام په دين باندې وو.دهغوی په طريقه اوچال ډهال باندې وو.دخپل رب خواه ته ئې سلامت زړه يعنی دتوحيدوالاکوم چه دالله تعالى ربښتياوالې منی،دقيامت راتلل منی،دمړوبياژوندی کيدل منی،دشرک اوکفرنه بيزاره وی،په نوروخلقوباندې لعنت نه وائی،يورلو.(۲)خليل الله دخپل ټول قوم اوپلارنه صفاانکاراوکړو.چه تاسوداڅاته سجدې کوئ؟دالله تعالى نه علاوه دنوروبندګی پريږدئ،اودخپل باطل معبودانو بندګی پريږدئ.ګنی الله تعالى به دتاسوسره څه اونه کړی،اوتاسوته به سختې سزاګانې درکړی.

فَنَظَرَ نَظْرَةً	فِي النُّجُوْمِ ۙ	فَقَالَ	اِنِّيْ سَقِيْمٌ ۝	فَتَوَلَّوْا	عَنْهُ	
بيا نظرهوکړو هغه يونظراپه ستورو کښې اپس وې وئيل اچې زه ناجوړه يم اپس اوګرځيدل هغوئ اډهغه نه						
بيا ابراهيم عليه السلام شا طرف ته اوکتل	اودائې ئې اووئيل چې زه ناجوړه يم	غرض دا چې هغوئ ترې لاړل				

(۱) الطبری : ۲۱/۶۰.
(۲) الطبری : ۲۱/۶۳.

مُدْبِرِيْنَ ﴿۹۰﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۹۱﴾

شاکونکی هغه ته | پس پټ ورغي | معبودانو دهغوئ ته |پس وي وئيل |آيا تاسو نۀ خورئ(دا طعام)

روان شو|ابراهيم دهغوئ معبودانوته ورغلو|نوورته ئې اووئيل چې آيا تاسو خوراک څکاک نه کوئ

مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ﴿۹۲﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ﴿۹۳﴾

څه اوشو په تاسو | چې خبرې نۀ کوئ | پس ورغې په هغوئ باندې | په وهلو سره | په ښي لاس

داڅه درباندې شوی دی ؟ | تاسوخبرې هم نه کوئ؟ |ابيائې په ښي لاس پوره قوت سره د هغوی ماتول شروع کړل

فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ ﴿۹۴﴾ قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا

پس راغلل هغوئ| دۀ ته | چې منډې ئې راوهلې | اووئيل هغه | آيا تاسو عبادت کوئ| دهغه ځيزونو

نو ورته واپس په منډو راغلل|..... ابراهيم عليه السلام اووئيل چې تاسو دهغه بتانو عبادت کوئ

تَنْحِتُوْنَ ﴿۹۵﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا

چې تاسو ئې تراشئ (په لاسونو) | او حال دا چې الله | پيدا کړی يئ تاسو | او هغه ځيزونه

چې په خپلو لاسونو ئې تراشئ | اوحال دا دې چې الله تعالی تاسو اوستاسوجوړ کړی ځيزونه هم

تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ

چې تاسو ئې جوړوئ |اووئيل هغوئ | جوړ کړئ |دپاره ددۀ |يو غټ ځائې (دوور) |پس اوغورزوئ دۀ لره

پيدا کړی دی | .....هغوئ اووئيل چې دۀ دپاره اور تيار کړئ | .....نو دې

فِى الْجَحِيْمِ ﴿۹۷﴾ فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ

دوور په سرو لمبو کښې | پس اراده اوکړه هغوئ | دهغه سره|ديوکارکولو |پس اوکړځول مونږه هغوئ

بل اور کښې وراوغورزوئ | .....نو هغوئ د ابراهيم عليه السلام خلاف سازش شروع کړو

الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۹۸﴾

ښکته (ذليله) |

نومونږ هغوئ ناکامه کړل|

قوله تعالی:: فَنَظَرَ نَظْرَةً فِى النُّجُوْمِ ﴿۸۹﴾

دحضرت ابراهيم بتان ماتول: حضرت ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته دادې دپاره اووئيل چه کله دوی خپله ميله کښې شرکت دپاره لاړشی نودې په عبادت خانه کښې يواځې پاتې شی اوهغه ته به د بتانو ماتولو موقع ملاوشی.په دې وجه باندې يوه ربښتونې خبره اوکړه خودهغې مطلب باندې هغوی پوهه نه شول او ابراهيم عليه السلام ترې خپل دينی مقصدواخستلو.هغوی خودخپلې عقيدې مطابق ابراهيم عليه السلام په ربښتيابانديې بيمار گنړلواوهغه ئې پريخودواولاړو.حضرت قتاده رحمة الله عليه فرمائی چه کوم کس په څه کار کښې غوراوفکرکولونوعربوبه وئيل چه ده په ستوروباندې نظرونه واچول.مطلب داچه دغوراوفکرسره به ئې ستوروته کتل اوسوچ به ئې کولوچه داڅنګه پريږدم؟سوچ کولونه پس به ئې اوفرمائيل چه سقيم يعنی بيماريم.

Scanned with Ca

د ابراهیم ﷺ د دریو دروغو مطلب: په یوحدیث کښی راغلی دی چه حضرت ابراهیم ﷺ صرف دري دروغ ویلی دی،چه په هغې کښی دوه ځله دالله تعالی ددین دپاره،چه په هغې کښی ئې یوځل فرمائیلی دی.

﴿اِنِّیْ سَقِیْمٌ﴾ اودویم ئی فرمائیلی دی ﴿قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ كَبِیْرُهُمْ هٰذَا﴾ اودهغوی حضرت ساره ته خپله خور ویلی.(۱) خو دا یاد ساتل پکاردی،چه په دې کښی یوهم حقیقی دروغ نه دی.دې ته مجازا دورغ ویلې کیږی.په کلام کښی داسې څه عذردشرعی مقصد حاصلولو دپاره دروغوکښی داخل نه دی.ځنګه چه په حدیث کښی دی چه عذرپه دروغوکښی نه دې داخل، اوددې نه بې نیازه کونکې دې.(۲)په ابن ابی حاتم کښی دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه دحضرت خلیل الله په دې درې واړوکلماتوکښی یوه هم داسې نه ده چه دهغې نه دالله تعالی ددین ښه والې مطلب نه وو.

حضرت سفیان رحمه الله فرمائی "زه بیماریم" نه مطلب ماته طاعون دې،اوهغه خلق به ددې مرض نه تختیدل.دحضرت سعید رحمه الله بیان دې چه دالله تعالی ددین تبلیغ اودهغوی ددروغو معبودانو تردید کولو دپاره دالله تعالی دخلیل داحکمت عملی وه چه یوستورې راختلوسره به ئې وئیل چه زه بیماریم. نورو هم دالیکلی دی چه زه بیمارکیدونکې یم.یعنی خامخا یوځل مرض الموت راتلونکې دې.اوداهم وئیلی شوی دی چه مریض یم.یعنی زمازره دستاسودبتانودعبادت نه بیماردې.

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه کله دابراهیم ﷺ قوم میلې ته تلونوابراهیم ﷺ ئې هم مجبور کولو،نوابراهیم ﷺ روستوشواواوئې فرمائیل چه زه بیماریم اوداسمان طرف ته ئې کتل شروع کړل.چه کله هغوی لاړل اوابراهیم ﷺ یواځې پاتې شونوپه یواځې والی کښی ئې دهغوی ټول بتان مات کړل.هغوی خوټول خپل اخترته لاړل اوابراهیم ﷺ زرزردهغوی بتان ته لاړو.اول خوئې اوفرمائیل چه ولی جناب تاسوخوراك ولې نه کوئ؟دلته راتلوسره حضرت ابراهیم ﷺ اولیدل چه کوم څیزونه هغه خلقودوی باندې ایخودې ووهغه هم هغه شان پراته وو.هغه خلقوچه دتبرك دپاره کومې قربانیانې دلته کړې وې هغه هم هغه شان پرتې وې.دابت خانه ډیره زیاته لویه اومزیداره وه.ددروازې خواکښی یودیرلوې بت وواودهغه نه ګیرچاپیره واړه اوبیادهغوی نه واړه بتان وو،ټوله بت خانه دبتانونه ډکه وه.دهغوی سره مختلف قسمه خوراکونه پراته ووچه هغه په دې مقصدسره ایخودلې شوې ووچه دلته پروت والی سره به برکت والاشی اوبیابه ئې مونږاوخورو.ابراهیم ﷺ ته چه دخپلې خبرې جواب ملاونه شونواوئې فرمائیل داپه تاسوڅه شوی دی؟خبرې ولې نه کوئ؟اوس دخپل ښه لاس پوره قوت سره ئې هغوی وهل شروع کړل اوټکړې ټکړې ئې کړل،اولوې بت ئې پریخودوچه شك په هغه اوشی ځنګه چه په سوره انبیاء کښی ټوله واقعه تیره شوې ده اوپه هغې کښی تفسیرهم بیان شوې دې.بت پرست چه کله دخپلې میلې نه واپس شول اوبت خانې ته داخل شول اوئې لیدل چه دهغوی ټول بتان مات اوټکړې پراته دی،دچالاس نشته،دچاخپه نشته،دچاسراودچابدن نشته.حیران شول چه داڅه شوی دی؟ اخر د سوچ اوبحث نه پس نه ئې معلومه کړه چه دابه دابراهیم کاروی.اوس ټول دخلیل الرحمن طرف ته ډیر غصه اوپه منډه لاړل.خلیل ته دتبلیغ کولواوملامته کولویوه ښه موقع ملاوشوه ورته ئې اووئیل چه ولی دداسې څیزونوعبادت کوئ،کوم چه تاسوپخپله جوړوئ،په خپل لاس ئې جوړوئ اوتراشئ،اودا ستاسواوستاسودعملونوخالق الله تعالې دې.ممکن ده چه دې ایت کښی مامصدروی،اوداهم ممکن ده چه د ،،**الذی**،، په معنی کښی وی.خوپه دواړومعنوکښی تلازم دې یعنی اول زیات ظاهردې.نوامام بخاری رحمه الله په کتاب افعال العباد کښی یومرفوع حدیث نقل کړې دې چه الله تعالی هرصانع اود هغه د

---

(۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی (واتخذالله ابراهیم خلیلا) :۳۳۵۸ ، صحیح مسلم: ۲۳۷۱.

(۲) الادب المفردات للبخاری : ۸۵۷، وسنده صحیح .

Scanned with Ca

صنعت پیداکوی(۱).بیا چې کله ددوئ سره حجت ختم شو او دابراهیم ﷺ دسوال صحیح جواب هغوی سره نه وو،نوهغوی په دشمنی اوسختی شروع کړه اوئې وئیل یوبنیان جوړکړئ په هغې کښی اوراولږوئ،اوپه هغه اورکښی دې واچوئ.نوهم دغه شان اوشول.خواللہ تعالی خپل خلیل بچ کړو.هغه ته نې غلبه ورکړه اودهغه مددئې اوکړو.اګرچه هغوی هغه ته برائی رڅول غوښتل خواللہ تعالی هم هغوی خواراوذلیل کړل.

وَقَالَ	اِنِّیْ	ذَاهِبٌ	اِلٰی رَبِّیْ	سَیَهْدِیْنِ ۝
اواووئیل ابراهیم	بیشکه زهٔ	تلونکې یم	رب خپل ته	لاړه به اوښانی ماته
اوابراهیم اووئیل چې زه خپل رب طرفته روان یم اهغه به ماته نیغه لاړه اوښانی				
رَبِّ	هَبْ لِیْ	مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ۝	فَبَشَّرْنٰهُ	بِغُلٰمٍ حَلِیْمٍ ۝
اے ربه زما	راکړه مالړه (خوئې)	دصالحانونه	پس زیرې ورکړو مونږ هغه ته	په یوهلك صبرناك سره
ائې زمارب! ماته یو نیک خوئې راکړه		.....نو مونږ هغه ته دیو صابره هلک زیرې ورکړو		
فَلَمَّا	بَلَغَ	مَعَهُ	السَّعْیَ	قَالَ
پس هر کله چې	اورسیدو هغه خوئې	دهغه سره	دمنډو ترړو عمر ته	نو اووئیل ابراهیم
نو څه وخت چې هغه دخپل پلار سره دګرځیدو عمر ته اورسیدو			نو ابراهیم ﷺ ورته اووئیل چې	
یٰبُنَیَّ	اِنِّیْ	اَرٰی فِی الْمَنَامِ	اَنِّیْ	اَذْبَحُكَ
اے خویه زما	بیشکه زهٔ	وینم	په خوب کښی	چې زهٔ
ائې خویه! زه په خوب کښې وینم چې تا ذبح کوم			نو ته هم سوچ اوکړه	
فَانْظُرْ	مَاذَا تَرٰی ؕ	قَالَ	یٰۤاَبَتِ	افْعَلْ
پس ته هم نظر اوکړه	چې څه وینې ته په خیال خپل کښی	اووئیل هغه	اے پلاره زما	اوکړه ته
(اوماته اووایه)				
مَا				
هغه				
چې ستا څه رائې ده	.....هغه (خوئې) اووئیل چې ائې بابا! تاته چې څه حکم شوې			
تُؤْمَرُ	سَتَجِدُنِیْۤ	اِنْ شَآءَ اللّٰهُ	مِنَ الصّٰبِرِیْنَ ۝	
چې حکم کیدې شی دهغې	او به مومې ته مالړه	که اوغواړئ اللہ	دصبر کونکونه	
دې هغه په څائې کړه	.....انشاء اللہ مابه صبر کونکې بیا مومی			
فَلَمَّاۤ	اَسْلَمَا	وَتَلَّهٗ	لِلْجَبِیْنِ ۝	وَنَادَیْنٰهُ
پس هر کله چې	غاړه کیښوده دواړو	اووائې چوئ هغه	پرمخې په تندی	او آواز کړو مونږ هغه ته
بیا چې دې دواړو دالله ﷻ حکم اومنلو		اوهغه (خوئې) ئې په پر مخې څملولو	اومونږ ورته آواز اوکړو	
اَنْ یّٰۤاِبْرٰهِیْمُ ۝	قَدْ صَدَّقْتَ	الرُّءْیَا ۚ	اِنَّا	كَذٰلِكَ
چې اے ابراهیم	ربښتیا کړو تا	خوب خپل	بیشکه مونږ	دارنګې
چې ائې ابراهیم ﷺ! تاخوب واقعی ربښتیا کړو	بیشکه مونږ نیکانو بندګانو ته هم دغه شان			

(۱) خلق افعال العباد للبخاری :۱۱۷، السنة لابن ابی عاصم: ۳۵۸. وسنده صحیح.

Scanned with Ca

الْمُحْسِنِيْنَ ۝	اِنَّ هٰذَا	لَهُوَ	الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ۝	وَفَدَيْنٰهُ
نیکانو خلقو له	بیشکه دا (ذبحه)	خامخا دا ووْ	ازمیښت ښکاره	او فدیه ورکړه مونږ هغه له
بدله ورکوْ	.....حقیقت دا دي چې دایو ډیر لوئي امتحان وو		اومونږ ددې په بدله کښې	
بِذِبْحٍ	عَظِيْمٍ ۝	وَتَرَكْنَا	عَلَيْهِ	فِي الْاٰخِرِيْنَ ۝
یوه قربانی	لویه (جنتی ګډوری)	او پریښودو مونږه	په هغه باندې صفت	په روستنو نسلونو کښې
ده ته یو لویه قربانی ورکړه	راتلونکو خلقو ته مو داخبره دده په تاریخ کښې باقی پریخوده			
سَلٰمٌ	عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ۝	كَذٰلِكَ	نَجْزِي	الْمُحْسِنِيْنَ ۝	اِنَّهٗ
سلام دي	په ابراهیم باندې	دارنګې	بدله ورکوْ مونږ	نیکانو خلقو له	بیشکه هغه
بیشکه مونږ نیکانو بندګانوته هم دغه شان بدله ورکوو	..... بیشکه هغه				
مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ۝	وَبَشَّرْنٰهُ	بِاِسْحٰقَ	نَبِيًّا
دبندګانو زمونږ مومنانونه ووْ	او زیري ورکړو مونږ هغه ته	په اسحاق سره	یو نبی
زمونږ د نیکانو بندګانو نه وو	اومونږ ابراهیم ته د اسحاق ﷺ زیري ورکړو	چې نبی اوخوش نصیبه	
مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝	وَبٰرَكْنَا	عَلَيْهِ	وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ؕ
د صالحانونه	او برکت کړي ووْ مونږه	په هغه باندې	او په اسحاق باندې
به وی	.....او مونږ په هغه (ابراهیم ﷺ) او اسحاق ﷺ باندې برکتونو اوکړل		
وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا	مُحْسِنٌ	وَّظَالِمٌ	لِّنَفْسِهٖ	مُبِيْنٌ ۝ ع
او داولاد ددې دواړو نه	څوك نیکو کار دي	او څوك ظالم دي	په ځان خپل باندې	ښکاره
اوددې دواړو په اولاد کښې نیکان خلق هم دی	اوپخپلو ځانونو باندې ښکاره ظلم کونکی هم			

قوله تعالی:: وَقَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ۝

ابراهیم ﷺ اوونیل زه خودخپل پروردګارطرف ته تلونکي یم.هغه به ضرورماته صحیح لاراوښائی.اې زمارب!ماته نیك بخت اولادراکړې.نومونږهغه ته دښه بچی زیري ورکړو.چه کله ئې خوې دومره عمرته اورسیدوچه دهغه سره دګرځیدوشونوابراهیم ﷺ ورته اووئیل خوږه ځویا ازه په خوب کښې تاته پخپله هلالول وینم.اوس ته وایه دستاځه خیال دي؟ځوی جواب ورکړوچه پلاره!چه کوم حکم کیږی هغه پوره کړئ.انشاء الله ته به ماصبرکونکي وینی.غرض داچه دواړواومنله اوپلاردځوی تندي ښکول کړو. مونږورته اوازاوکړوچه اې ابراهیم بالکل تا خپل خوب ریښتیاکړو.مونږنیکی کولووالوته هغه شان جزاء ورکوو.په حقیقت کښې دادهغه امتحان وو.اومونږیوه لویه قربانی دهغه په خپوکښې اوکړه.اودهغه دخیرذکرمونږه روستوخلقوکښې پریخودو.په ابراهیم ﷺ دې سلام وی.مونږنیك کارونه کولووالاته هم هغه شان جزاء ورکوو.بې شکه هغه زمونږپه ایمان بندګانوکښې وو.مونږهغه ته داسحاق نبی زیري ورکړوچه هغه د صالح خلقونه وو.اومونږپه ابراهیم اواسحاق باندې برکتونه نازل کړل.ددې دواړوپه اولاد کښې څه نیك بخت دی اوپه خپل نفس باندې ظلم کولووالادی.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: اِنِّیۡۤ اَرٰی فِی الۡمَنَامِ اَنِّیۡۤ اَذۡبَحُکَ فَانۡظُرۡ مَاذَا تَرٰی ؕ

دحضرت ابراهیم علیه السلام حضرت اسماعیل علیه السلام ذبح کول: خلیل الله چه کله دخپل قوم دهدایت نه راؤړلو په وجه خفه شو. لوې لوې قدرتی نخې لیدلونه پس چه هم هغوی ایمان راونه ړو ،نوابراهیم علیه السلام تړې جدا کیدل ښه اوګنړل اواعلان ئې اوکړوچه زه به اوس دستاسونه هجرت اوکړم.زمالاره خودنکې زماالله تعالی دې.اودخپل رب نه ئې داولاددعااوکړه.چه هغوی ته توحیدکښی دابراهیم علیه السلام مدداوکړی.هم هغه وخت دابراهیم علیه السلام دعاقبوله شوه اودیوفرمانبرداره ځوی زیرې ورته ورکړې شو.داحضرت اسماعیل علیه السلام وو، هم دادحضرت ابراهیم علیه السلام ړومبې ځوې وواودحضرت اسحاق علیه السلام نه مشروو.دې خواهل کتاب هم منی.اودهغوی په کتاب کښی دی چه داسماعیل علیه السلام دپیدائش په وخت کښی دحضرت ابراهیم علیه السلام عمرشپږاتیاکاله وو. اوکوم وخت چه اسحاق علیه السلام پیداشونوهغه وخت ئې عمریوکم سل کاله وو.اودهغوی په خپل کتاب کښی داهم دی چه حضرت ابراهیم علیه السلام ته دخپل ځوی دذبح کولوحکم شوې وو.خوچونکه دا خلق پخپله دحضرت اسحاق علیه السلام اولاددې اونبی الله اوذبیح الله اولادچونکه عربیان دی نوهغه خلقو دا فضیلت اواسماعیل علیه السلام نه اخستلې دې اودحضرت اسحاق علیه السلام سره ئې لږولې دې اوداالله تعالی کلام کښی ئې فرق راوستې دې.اووائی چه زمونږپه کتاب کښی **وحیدک** دې ددې مطلب یواځې نه دې.بلکه ځوک چه ستاسره داوخت دې هغه یواځې دې.ځکه چه حضرت اسماعیل علیه السلام خوهغه وخت خپلې مورسره په مکه کښی وو.دلته دخلیل الله سره صرف اسحاق علیه السلام وو.خودابالکل غلط دی. "وحیدک" هغه ته وئیلې کیږی کوم چه یواځې وی.دهغه بل ځوک رورنه وی،دلته یوه خبره بله هم ده چه یواځې اوړومبی ځوی سره ځومره مینه وی اودهغه چه ځومره نیازبین توب وی هغه دنور بچو کیدو باندې پاتې نشی.په دې وجه دهغه دذبح کولوحکم،یولوې امتحان اوازمیښت وو.مونږدامنو.

بعضې بزرګان هم دامنی چه ذبیح الله حضرت اسحاق علیه السلام وو،تردې چه څه صحابه ګرامو رضی الله عنهم نه هم دا روایت دی،خوداخبره دکتاب اوسنت نه ثابت نه ده.اوداخیال کیږی چه دبنی اسرائیلومشهوره کړې خبره دې حضراتوهم بې دلیله منلې ده.لږې تګ نه دې پکاردالله دکتاب په الفاظوباندې غور اوکړئ، چه دحضرت اسماعیل علیه السلام دزیری اعلان په غلام حلیم وئیلوسره اوشو.بیادالله تعالی په لارکښی دذبح کیدوتیاری ذکراوشو.دابیان ختمیدونه پس دحضرت اسحاق علیه السلام دپیدائش ذکرراغلې دې. اوفرښتو د اسحاق علیه السلام دپیدائش زیردغلام علیم وئیلوسره اوکړو.هم دغه شان په قران کښی داسحاق علیه السلام زیری سره ارشاد دې.﴿ وَمِنۡ وَّرَآءِ اِسۡحٰقَ یَعۡقُوۡبَ﴾ یعنی دحضرت ابراهیم علیه السلام په ژوندکښی به دحضرت اسحاق علیه السلام نه حضرت یعقوب علیه السلام پیداشی.یعنی دهغه دنسل خورولوخودمخکښی نه خبره کړې شوې ده اوس هغه څنګه ذبح کړې شی؟دامونږمخکښی هم بیان کړی دی.اودحضرت اسماعیل علیه السلام صفت ئې دلته فرمانبرداری بیان کړې دې،چه هغه دذبح کولودپاره بالکل مناسب دې.

اوس حضرت اسماعیل علیه السلام غټ شواودخپل پلارسره دټک راټک قابل وو،اسماعیل علیه السلام هغه دخپلې مورسره په فاران کښی وو.حضرت ابراهیم علیه السلام به هلته ته تلوراتلو.داهم ذکرشوی دی چه په به براق به تلوادې جملې معنی داده چه دخوانې زمانه کښی وواودماشومالی وخت تیرشوې وواودپلارپه شان دګرځیدواوکارکولوقابل وو.نوحضرت ابراهیم علیه السلام په خوب کښی اولیدل چه هغه خپل خوږخوې ذبح کوی دنبیانوخوبونه به وحی وو،اوددې دلیل داایت دې،په مرفوع روایت کښی داهم دی.بس الله تعالی رسول دخپل دزړه ټکړې دازمیښت دپاره اوپه دې وجه چه یوناساپه دهغه ذبح کولوپه هغه اونه ویږی،خپله اراده او رائی په هغه باندې ظاهره کړه. هغه خوهم ددې ونې میوه وه.نبی ابن نبی وو.جواب ئې ورکړو.پلاره نوبیاناوخته کوې ولې دې خبروکښی دټپوس کولوڅه ضرورت دی؟کوم حکم چه شوې دې هغه زرپوره کړه اوکه زمابارہ کښی څه درته څه شک وی نوچاړه کیده معلومه به درته

Scanned with Ca

شی چه زه څومره صبرکونکې یم.انشاء الله زماپه صبرباندې به دستازړه خوشحاله شی.سبحان الله چه څه ئې ونیلې ووهغه ئې اوکړل.اوپه وعده باندې قائم اوسیدلوسرتیفکیټ ئې دالله تعالی نه حاصل کړو. او پلاراوخوې دواړه دالله دحکم پوره کولودپاره راضی شول.

قوله تعالی:: فَلَمَّآ اَسْلَمَا وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ۝

پلار اوخوې دواړه دالله ﷻ حکم ته تیار شو: پلاردالله په لارکښی خپل خوې ذبح کولودپاره اوخوې د الله په لارکښی خپل څټ کټ کولودپاره تیاریږی اوپلاردخپلوسترګونور،دزړه سرپه زمکه باندې په زمکه باندې الټه غورخوی چه دذبح کولوپه وخت کښی دهغه لاسونه سست نشی.

مسندکښی داحمدابن عباسؓ نه روایت دې چه کله حضرت ابراهیمؑ دسترګوتورالله تعالی په حکم باندې بوتلونوهغه وخت کښی شیطان ئې مخې ته راغې.خوحضرت ابراهیمؑ سره یې دهغه نه مخکښی اووتلو.بیادحضرت جبرئیلؑ سره ابراهیمؑ ته عقبه ته لاړونوهغه وخت بیاشیطان ئې مخې ته راغې،ابراهیمؑ هغه په اووه کانړوباندې اویشتو.بیادجمره وسطی خواه کښی ورته مخې ته راغې هغه وخت ئې بیااووکانړی ویشتو.بیامخکښی شواوخپل خوږخوې ئې دالله په حکم باندې ددبح کولودپاره راسملولو،دذبیح په بدن باندې هغه وخت یوسپین څادروو.اووئې وئیل چه پلاردارانه کوزکړه چه دابیاماته کفن کړې.اهغه وخت خوې بربنډولووخت کښی دپلارڅه عجیبه حال وو.چه اوازراغې بس ابراهیم خوب دې رښتیاثابت کړو.شاته ئې اوکتل نودشپین رنګ غټوغټو خکړو والا یو ګډئې اولیدو.حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه دغه وجه چه مونږدغه شان سنډګان قربانوو.(۱)

هم دحضرت ابن عباسؓ نه په دویم روایت کښی دحضرت اسحاقؑ نوم روایت شوې دی.خواولنې صحیح دې اوددې دلیلونه راځی،انشاء الله تعالی.دهغې په بدله کښی لویه قربانی الله تعالی ورکړه اوپه دغه باره کښی حضرت ابن عباسؓ فرمائی چه داجنتی ګډه وه.چه هغې هلته د څلویښتو کالو راسې وه.هغې لیدلوسره ابراهیمؑ خپل خوې پریخودواوهغې پسې شو.جمره اولی ته راورسیدو ،اووکانړې ئې ویشتل بیااوتختیده اوجمره وسطی ته اورسیده.اووکانړی ئې دلته ویشتل اوبیاجمره کبری سره اووکانړی ویشتل اودهغه ځائې نه ئې منحرته راوسته اوحلاله ئې کړه.دهغې خکرې دسرسره داسلام دشروع پورې خانه کعبې باندې زوارندې وې بیااوچې شوې.یوځل حضرت ابوهریرهؓ او حضرت کعبؓ خپلوکښی ناست ووخبرې ئې کولې.حضرت ابوهریرهؓ خوحدیثونه بیانول اوحضرت کعبؓ دکتابونوقصې بیانولې.حضرت ابوهریرهؓ اوفرمائیل چه درسول اللهﷺ فرمان دې چه هرنبې دپاره یوه دعاپټه ده اوماخپله دغه دعاپټه ساتلې ده چه هغه به دقیامت په ورځ دامتیانودپاره وی.(۲)

حضرت کعبؓ اوفرمائیل تاسوپخپله دحضورﷺ نه اوریدلی دی؟اوئې فرمائیل او.حضرت کعبؓ خوشحاله شواوئې فرمائیل په حضورﷺ باندې زمامورپلارقربان.بیاحضرت کعبؓ دحضرت ابراهیمؑ قصه شروع کړه چه کله ابراهیمؑ دخپل خوی حضرت اسحاقؑ دذبح کولودپاره تیارشونوشیطان اووئیل که مادې نن دهوکه نه کړونوبیاماته دده نه ټول عمردپاره خفه کیدل پکار دی. اول خودې حضرت ساره ته راغې اوتپوس ئې تړې اوکړوچه ابراهیم دستاخوې کوم خواه بوتلو؟مورورته جواب ورکړوخپل څه کارته ئې بوتلې دی.هغه ورته اووئیل نابلکه هغه ئې ذبحه کولودپاره بوتلو.مورته ئې ورته اووئیل چه هغه ذبح کوی ولې؟لعین ورته اووئیل چه هغه وانی چه دالله تعالی هم دغه حکم دی. جواب ورته ملاؤشونوبیاخوهم دغه ښه ده چه هغه زرته زره دالله تعالی حکم پوره کړی.دلته نه نامراده شواودې ماشوم ته راغې اوورته ئې اووئیل چه ستاپلارتاکوم خواه ته بوځی؟هغه ورته اووئیل

---

(۱) احمد:۱/۳۹۷، وسنده صحیح.

(۲) صحیح بخاری کتاب الدعوات باب ((ادعونی استجب لکم)): ٦٣٠٤، صحیح مسلم: ۱۹۸.

Scanned with Ca

دخپل څه کاردپاره.ورته ئې اووئیل نا ابلکه دې تاذبح کولودپاره بوځی.اوئې فرمائیل ولې؟ورته ئې جواب ورکړوځکه چه هغه ګنړی چه دادالله تعالی حکم دې.ورته ئې اووئیل چه بیاخوهغه ته په دې کارکښی تندی پکارده.دلته نه هم خفه دا لعین خلیل الله ته ورغلو.هغوی ته ئې اووئیل داماشوم کوم خواه بوځی؟جواب ورته ملاؤشودخپل څه کاردپاره.ملعون ورته اووئیل نا ابلکه ته دې ذبح کولودپاره بوځې.هغوی ورته اوفرمائیل داولې؟ورته ئې جواب ورکړوځکه چه ستاخیال دې چه دادالله تعالی حکم دې.ابراهیمؑ اوفرمائیل چه په الله تعالې مې دې قسم وی زه به بیادا کارضرورکوم.اوس ابلیس مایوس شو.

بل روایت کښی دی چه الله تعالی حضرت اسحاقؑ ته اوفرمائیل چه ته زما نه دعااوغواړه،چه ته څه غواړې هغه به تاته ملاؤشی.حضرت اسحاقؑ اووئیل چه بیازمادادعاده،چه چاشرك نه وی کړې هغه ته ضرورجنت ته بوځه.رسول اللهﷺ فرمائی چه الله تعالی ماته په دووخبروکښی اختیارراکړې دې چه زه دې کښی یوه اختیارکړم.یاخوداچه زمانیم امتیان اوبخی یاداچه زه شفاعت اوکړم اوهغه الله تعالی قبول کړی.نوماشفاعت ته ترجیح په دې وجه باندې ورکړه چه هغه به عام وی.اویوه دعاوه چه مابه هغه کوله خودالله تعالی یونیك بنده هغه زمانه مخکښی اوکړه.واقعه داسې ده چه کله الله تعالی دحضرت اسحاقؑ نه دذبح کولوسختی لرې کړه نوورته ئې اوفرمائیل"اوغواړه چه څه غواړې درته به درکولې شی"توحضرت اسحاقؑ اوفرمائیل والله دشیطان ددهوکه کولونه مخکښی به زه هغه اوغواړم.اې الله کوم کس چه په دې حالت کښی مړشوې وی چه هغه دستاسره شرك نه وی کړې نوهغه ته اوبخه.اوهغه ته جنت ورکړه. داحدیث په ابن ابی حاتم کښی هم دی.خوسندئې غریب اومنکردې اوددې یوروایت کونکې عبدالرحمن بن زیدبن اسلمؒ ضعیف دې اوماته ویره ده چه داالفاظ"چه کله الله تعالی اسحاقؑ ته" نه داخره پورې دروایت کونکی خپل نه وی.اوداهغه په حدیث کښی داخل کړی وی.

ذبیح الله خوحضرت اسماعیلؑ دې دذبح کولوځائې په منی کښی دې اوداپه مکه دې اوحضرت اسماعیلؑ په مکه کښی ووحضرت اسحاقؑ نه،هغه خوپه کنعان ښارکښی وو،کوم چه په شام کښی دې.کله چه ابراهیمؑ خپل خوږځوې ذبح کولودپاره واچولونودالله تعالی دطرف نه اوازراغلوچه بس ابراهیم تاخپل خوب پوره کړو.

سدی نه روایت دې چه کله خلیل دذبیح الله په مرې باندې چاړه رانښکله نوځې ئې داوسپنې شواوکې نه شواوداواوازراغې چه مونږنیکوکاروته دغه شان بدله ورکوو،یعنی دسختیانوئې بچ کوو.ځنګه چه الله تعالی فرمائیلی دی."دالله تعالی نه ویریدونکی خلقودپاره الله تعالی دخلاصی لار پیدا کړی، او هغوی ته داسې رزق ورکوی چه دهغوی په خیال کښی هم نه وی.په الله تعالی باندې بهروسه کولودپاره الله تعالی کافی دې.الله تعالی خپل کارونه پوره کوی اودهرکاردپاره هغه یواندازمقررکړې دې.دایت په دې خبره باندې دلیل دې چه کارکیدونه مخکښی حکم منسوخ شوې وو.

د کار کیدو په وخت کښې حکم منسوخ شو ::دلته معتزله دانه منی،داستدال وجه ښکاره ده ځکه چه خلیل الله ته دخپل خوی دذبح کولوحکم ملاؤشوې وو،اودذبح کولونه مخکښی دفدې سره منسوخ شو.ددې نه مقصدداووچه دحکم په منلوباندې ورته ثواب ملاوشی.په دغه وجه باندې ارشاداوشوچه داخوصرف .یوازمیښت وو،کهلاؤامتحان وو،چه یوطرف نه حکم اوشواوبل طرف ته ورته تیاری اوشوه.په دې وجه باندې دجناب خلیل الله په تعریف کښی قران مجیدکښی دی."ابراهیم ډیرو فادارو، د لوې قربانې سره دهغه فدیه مونږورکړه."سپین رنګ،غټې سترګې اوغټوخکروالااوپه ښه خوراك باندې غټ شوې ګډمونږدهغه په فدیه کښی ورکړوچه هغه په ثبیرکښی دبیرې ونې پورې ترلې شوې وواوهغه په جنت کښی څلویښت کاله وو.منی کښی چه دثبیرسره کوم غردې په هغې باندې دا څناور حلال کړې شوې دې.دې په چغویاندې دابره نه راغلې وو.هم داهغه ګډدې کوم چه هابیل دالله په لارکښی قربان کړې

Scanned with Ca

وو،دهغې وړې لږه شان سره وه دهغه نوم جريروو.بعضې وائی چه مقام ابراهيم کښی هغه حلال کړې شوې وواوځوك وائی چه په منی کښی منحريانديې.

د ابن عباس ﷺ فتوی::يوکس خپل ځان دالله تعالی په لاره کښی دذبح کولومنت منلې وو.نوحضرت ابن عباس ﷺ هغه دسلواوښانودحلالوفتوی ورکړه خوبيائې اوفرمائيل که ماهغه ته ديوګډحلالووئيلی وو نو هم کافی وو.ځکه چه په کتاب کښی دکتاب الله فديه يوګډسره ورکړې شوې ده.دزياتوخلقوهم دغه قول دې.بعض وائی چه داغرونوچيلې وو.ځوك وائی چه اوسې وه.مسنداحمدکښی چه ابن عباس ﷺ حضور ﷺ راوغښتلواوورته ئې اوفرمائيل چه مابيت الله ته داخليدووخت کښی دګډځکرې ليدلې وې اوماته يادنه ووچه تاته مې دهغې دپټولوحکم کړې وې.لارشه اوهغه پټې کړه.په بيت الله کښی داسې څه ځيزنه دې پکارچه هغه دمونځ کونکوخيال بل طرف ته بوځی.(۱)حضرت سفيان ﷺ فرمائی ددې ګډځکرې هم په بيت الله کښی وې.تردې چه يوځل په بيت الله کښی اوراولږيدو،اوهغه پکښی ارسوزيدې .داواقعه هم ددې خبرې ګواهی ورکوی چه ذبيح الله هم حضرت اسماعيل ﷺ وو په دغه وجه باندې دهغه اولادقريش داخکرې محفوظ ساتلې وې،تردې چه الله تعالی حضرت محمد ﷺ پيداکړو.والله اعلم.

دهغه خبرويان په کومو کښې چه ذبيح الله اسحاق ﷺ دې.ابومیسره رحمه الله فرمائی چه حضرت يوسف ﷺ دمصربادشاه ته اوفرمائيل.چه ته زماسره خوراك کول غواړې؟زه يوسف بن يعقوب نبی الله بن اسحاق ذبيح الله بن ابراهيم خليل الله يم.دعبيدبن عميرنه نقل دی حضرت موسی ﷺ الله تعالی ته عرض اوکړوچه اې الله!چه څه خبره ده چه خلق وائی په چه دابراهيم ﷺ،اسحاق ﷺ اويعقوب ﷺ په خدې مو قسم.نوجواب ورته ملاؤشوچه ابراهيم خوپه هريوځيزباندې ماته ترجيح راکړه اواسحاق خپل خان زماپه دربارکښی ذبح کولو له تيارکړې وو،نوبيانورځه ورته څه مشکل وو؟اويعقوب باندې چه ماځومره تکليفونه اچول دهغه برداشت به هم هغه هومره زياتيدو.

حضرت ابن مسعود ﷺ په مخکښی يوکس په فخرسره دخپل پلارنيکه نوم واخستلو.نوهغه ورته اوفرمائيل دفخرقابل نيکه خودحضرت يوسف ﷺ وو.چه هغه ديعقوب بن اسحاق ﷺ ذبيح الله بن ابراهيم خليل الله ﷺ وو.عکرمه رحمه الله،ابن عباس ﷺ،اوپخپله عباس ﷺ،علی ﷺ،سعيدبن جبير، مجاهد رحمه الله، شعبی رحمه الله،عبيدبن عمير رحمه الله،ابومیسره رحمه الله،زيدبن اسلم رحمه الله،عبدالله ابن شفيق، زهری رحمه الله، قاسم بن ابوبزه،مکحول رحمه الله،عثمان بن ابی حاضر رحمه الله، سدی رحمه الله، حسن رحمه الله، قتاده رحمه الله، ابوالهذيل رحمه الله،ابن سابط رحمه الله،کعب احبار رحمه الله،ددې ټولوهم دغه قول دې اوابن جريرهم دغه وائی چه ذبيح الله حضرت اسحاق ﷺ وو.صحيح علم خوالله ته دې خوپه ظاهره داسې معلوميږی چه ددې ټولوبزرګ احباردې.دې په فاروقی خلافت کښی مسلمان شوې وو،اوکله کله به نې حضرت عمر ﷺ ته د پخوانوکتابونوقصې اورولې.خلقودا رخصت اوګنړلواوبيابه ئې تړې هره خبره نقل کوله،اوپه دې کښی د صحيح اوغلط خبرې فرق ختم شو.ربښتياخوداده چه دې امت ته دزورپوکتاب ضرورت هم نشته.بغوی رحمه الله څه نوروصحابه رضوان الله اجمعين اوتابعين رحمة الله عليهم نومونه خودلی دی.کومو څيلی دی چه ذبيح الله حضرت اسحاق ﷺ دې.په يومرفوع حديث کښی دی که چرته هغه حديث صحيح وونودجهګړې فيصله وه. خوهغه حديث صحيح نه دې.په دې کښی دوه روايت کونکی ضعيف دی.نوپه يوسندباندې داخبره دحضرت ابن عباس ﷺ نه روايت ده اوداډيره صحيح ده.والله اعلم.

هغه خبرې چې د اسماعيل ﷺ ذبيح الله کيدلو دليل دې::وس هغه خبرې اولولئ دکومونه چه معلوميږی چه ذبيح الله حضرت اسماعيل ﷺ وو.اوهم دا ټيك اوصحيح ده.ابن عباس ﷺ هم دغه فرمائی چه يهوديان

---

(۱) ابوداود کتاب المناسک باب فی دخول الکعبة: ۲۰۳۰. وهوحسن.

Scanned with Ca

دحضرت اسحاق﵇ نوم غلط اخلی.
دخلیفة المسلمین حضرت عمرابن العزیز﵀ په مخکښی چه کله محمدبن کعب قرظی﵀ دا اوفرمائیل اوورسره ئې ددې دلیل هم ورکړوچه ذبح کولوذکرنه پس په قران مجیدکښی خلیل الله ته د اسحاق﵇ دپیدائش زیرې ورکړې شوې دې اوورسره هم دابیان دې چه دهغوی کره به هلك کیږی چه نوم به ئې یعقوب وی.اوچه کله دهغه کره دهلك کیدوزیرې ورکړې شو،بیاددې نه پس چه دهغه لاهلك پیدا کیدونه مخکښی دهغه ذبح کولوحکم څنګه اوشو؟نوحضرت عمر بن عبدالعزیز اوفرمائیل چه ډیرواضح دلیل دې زماذهن دلته نه وورسیدلې یعنی ماهم منل چه ذبیح الله حضرت اسماعیل﵇ وو. بیا شاه اسلام دشام یویهودی عالم نه تپوس اوکړوکوم چه مسلمان شوې وو،چه تاته ددې باره کښی څه علم دې؟هغه ورته وئیل چه امیرالمومنین ربښتیاخبره داده چه دچاذبح کولوحکم شوې وو،هغه حضرت اسماعیل﵇ وو،خوچونکه عربیان دهغه اولادکښی دی نودابزرګی هغوی ته ملاویږی په دې وجه باندې یهودیانوهغه بدل کړو.اودحضرت اسحاق﵇ نوم اخلی.ربښتیاعلم الله سره دې خوزمونږایمان دې چه حضرت اسحاق﵇ اوحضرت اسماعیل﵇ دواړه پاك اوطیب اودالله تعالی فرمانبرداره وو.په کتاب الزهدکښی دی چه دحضرت امام احمدبن حنبل﵀ څوې حضرت عبدالله دخپل پلارنه کله دمسئلې تپوس اوکړونوهغه ورته جواب ورکړوچه ذبح کیدونکې حضرت اسماعیل﵇ وو.دحضرت علی، حضرت ابن عمر،ابوالطفیل،سعیدبن مسیب،سعیدبن جبیر، حسن، مجاهد،شعبی،محمدبن کعب ،ابوهریره،ابوجعفرمحمدبن علی،ابوصالح ﵃ نه هم دغه روایت دی.
امام بغوی﵀ دنوروصحابه کرامو﵃ اوتابعین﵀ نومونه اخستلی دی.یوغریب حدیث هم ددې په تائیدکښی روایت شوې دې،په دې کښی دی چه په شام کښی دامیرمعاویه مخکښی دابیان راغې چه ذبیح الله څوك دې؟نوهغه اوفرمائیل چه ښه ده چه دامعامله زماپه شان باخبرکس مخې ته راغله. واوری؛امونږدحضورﷺ سره ووچه یوکس حضورﷺ ته راغې اواوئې وئیل،چه ای ددوواللّٰه تعالی په لارکښی د دوۀذبح کړې شوۀ والا د نسل نه رسوله!ماته هم دغنیمت دمال نه څه راکړه.په دې باندې حضورﷺ په خنداشو،یوذبیح الله خودحضورﷺ پلارحضرت عبدالله وودویم حضرت اسماعیل﵇ وودچادنسل چه حضورﷺ دې.دعبدالله ذبح کیدوواقعه داسې ده چه دحضورﷺ نیکه عبدالمطلب چه کله دزمزم کوې اوکنستلونوداخبره ئې اومنله که داکارپه اسانتیاسره اوشونودالله په لارکښی به خپل یوځوې ذبح کړم.کله چه کارپوره شواوقرعه اندازی اوکړه چه کوم څوې دالله په نوم باندې ذبح کړم؟نودحضورﷺ دپلارعبدالله نوم راوتلو.دهغه دمورطرف نه نیکه ورته اووئیل چه دده په څائې باندې سل اوښان حلال کړئ،نوهغه اوښان حلال کړې شول(۱).اودحضرت اسماعیل﵇ واقعه خومشهورده.ابن جریرکښی دا روایت موجوددې اومغازی امویه کښی هم شته.
دابن جریر دلیل چې ذبیح الله اسحاق ﵇ دې: ابن جریرخودحضرت اسحاق﵇ دذبیح الله دادلیل پیش کوی چه دکوم حلیم ماشوم دزیرې ذکردې دهغه نه مراداسحاق﵇ دې.په قران کښی بل ځائې دی.﴿ وَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ﴾ اودحضرت یعقوب دزیری داجواب ورکړوچه هغه دهغه سره دګرځیدوعمرته رسیدلې وو،اوداهم ممکن ده چه دیعقوب سره بل څه اولادهم وو.اوپه کعبة الله کښی دخکردموجودګی باره کښی فرمائی چه داهم ممکنه ده چه دبلاد او کنعان نه ئې دادلته راوړې وی.او د څه خلقونه داسحاق﵇ دنوم صراحت هم بیان شوې دې.خوداټولې خبرې دحقیقت نه لرې دی.اودحضرت اسماعیل﵇ په ذبیح الله باندې دمحمدکعب قرظی﵀ خبره ډیره واضحه اومضبوط ده والله اعلم.ړومبې دذبیح الله حضرت اسماعیل﵇ دپیدائش زیرې ورکړې شو.دلته بیادهغه درورحضرت

---
(۱) حاکم :۲/۵۵٤،.

اسحاق علیه السلام زیرې ورکړې شو.سوره هود اوسوره حجرکښې هم ددې ذکرتیرشوې دې."نبیاء" حال مقدره دې یعنی هغه به صالح نبی وی.

دابن عباس رضی الله عنه دلیل: ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ذبیح حضرت اسحاق علیه السلام وو.اودلته نبوت دحضرت اسحاق علیه السلام زیرې دې، څنګه چه حضرت موسی علیه السلام په باره کښې فرمان دې چه مونږهغه په خپل رحمت سره دهغه رورهارون نبی جوړکړو.حالانکه هارون دموسی علیه السلام نه مشروو.نودلته هم دهغه دنبوت زیرې دې.نودازیرې په دې وجه باندې ورکړې شوې دې چه هغه دذبح کولوپه امتحان کښې صبرکونکې وو.داهم روایت شوی دی چه دازیرې دوه ځله ورکړې شوې دې،دپیدائش نه لږمخکښې اودنبوت نه لږمخکښې.دحضرت قتاده رحمه الله نه هم داروایت دی.په هغه باندې اواسحاق باندې دې برکتونه وی.دهغه په اولادکښې هرقسمه خلق دی،نیک بخت هم اوبدبخت هم.څنګه چه حضرت نوح علیه السلام فرمائیلی دی چه ای نوح!چه زمونږ د سلام اوبرکت په وجه باندې ته اوستاسره خلق اوداسې خلق هم شته چه هغوی ته مونږفائدې ورسوو، بیابه هغوی ته زمونږدطرف نه دردناک عذاب وی.

وَلَقَدْ	مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۚ﴿۱۱۴﴾	وَنَجَّيْنٰهُمَا	وَقَوْمَهُمَا
اواحسان اوکړو مونږه	په موسی او هارون باندې	او نجات ورکړو دواړو له	او قوم ددواړو له
او مونږ په موسی علیه السلام او هارون علیه السلام باندې هم احسان کړې وو		او دوئ دواړه مو سره دخپله قومه	
مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۚ﴿۱۱۵﴾	وَنَصَرْنٰهُمْ	فَكَانُوْا	هُمُ
دمصیبت (غم) لوئ نه	او امداد اوکړو مونږه دهغوئ	پس شو هغوئ	هم هغوئ
دلوئې مصیبت نه خلاص کړل	او مونږ ددوئ امداد اوکړو	نو دوئ (په فرعونیانو)	
الْغٰلِبِيْنَ ۚ﴿۱۱۶﴾	وَاٰتَيْنٰهُمَا	الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ۚ﴿۱۱۷﴾	وَهَدَيْنٰهُمَا
غالب	او ورکړ مونږ دواړو له	کتاب	روښانه
غالب شول	او مونږ دې دواړو ته روښانه کتاب ورکړو		اولاره اوښودله مونږ دواړو ته
الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۚ﴿۱۱۸﴾	وَتَرَكْنَا	عَلَيْهِمَا	فِي الْاٰخِرِيْنَ ۙ﴿۱۱۹﴾
لاره	نیغه	او پریښودو مونږه صفت	په دواړو باندې
اوخودله	او مونږ دې دواړو دپاره په روستو راتلونکو خلقو کښې دا (ذکرخیر) باقی اوساتلو		
سَلٰمٌ	عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۚ﴿۱۲۰﴾	اِنَّا	كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۚ﴿۱۲۱﴾
سلام دې	په موسی او هارون باندې	بیشکه مونږه	هم درانګې
چې په موسی علیه السلام اوهارون علیه السلام دې سلام وی	بیشکه مونږ دغه شان نیکانو بندګانو ته بدله ورکوؤ		
اِنَّهُمَا	مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ﴿۱۲۲﴾		
بیشکه هغوئ دواړه	دبندګانو زمونږ	مومنانو نه وؤ	
دوئ دواړه زمونږ د مومنانو بندګانو څخه وو			

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۚ

دحضرت موسی علیه السلام اوحضرت هارون علیه السلام ذکر: الله تعالی حضرت موسی علیه السلام اوهارون علیه السلام ته خپل نعمتونه بیانوی چه هغوی ته ئې نبوت ورکړو.اوهغوی ته ئې دقوم سره دفرعون په شان طاقتوردښمن نه خلاصي ورکړو.چاچه هغوی ډیرزیات ذلیل اوخوارکړي وو.دهغوی بچی ئې قتل کړی وواوجینکئ ئې پریخودي وي،اوهغوی نه بې ذلیل خدمتونه اخستل اوبې حیثیته کړی ئې وو.داسې بدترین دښمن دهغوی په مخکښی هلاك کړو.هغوی ئې په هغه باندې غالب کړل.هغوی دخپلوزمکواومالونومالکان شول.بیائي حضرت موسی علیه السلام ته واضح روښانه اوکتاب ورکړوچه هغه په حق اوباطل کښی فرق کونکي اونوراوهدایت والاوو.اودهغوی نه پس خلقوکښی ئې هم دهغوی ذکراوثناء صفت اوساتلو.چه هریوه ژبه په هغوی باندې سلام وائی.مونږنیك خلقوته هم دغه شان بدلې ورکوو.هغوی زمونږمومن بندیان وو.

وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۘ	
او بیشکه الیاس علیه السلام (هم)	درسولانو نه وؤ
اوالیاس علیه السلام هم په پیغمبرانو کښې شامل دي	
اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ	
کله چې اووئیل هغه	قوم خپل ته	آیا نه یریږئ تاسو آیا تاسو رابلئ	بعل بت اوپریږدئ تاسو
څه وخت چې هغه خپل قوم ته اووئیل	چې آیا تاسو دالله ﷻ نه نه ویریږئ	آیاتاسو دبعل عبادت کوئ	
اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ ۙ اللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ	
بهتره پیدا کونکي (الله)	(هغه) الله اچې رب ستاسو دي	او رب دپلارانو ستاسو
اوښکلي خالق مو پریخودي دي	یعنی الله ﷻ چې ستاسو او ستاسو د پخوانو پلار نیکونو رب هم	
الْاَوَّلِيْنَ ۝ فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ۙ	
ړومبنو دي	پس هغوئ دروغ اوګنړو هغه	پس بیشکه هغوئ	خامخا به حاضر کړې کیږی سزا ته
دي	.....هغوئ الیاس علیه السلام دروغ اوګنړلو	نو دا ټول به عذاب ته حاضرولې شی	
اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ	
بغیر	دبندګانو دالله نه	هغه چې خالص کړې شوی وؤ	او پریښودو مونږه (صفت)	په هغه باندې
سوا دالله تعالی د خاص بندګانو نه	..... اومونږ د هغه په باره کښې راتلونکو خلقو ته دا خبره	
فِي الْاٰخِرِيْنَ ۙ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ۝ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي	
په روستو نسلونو کښې	سلام دي	په الیاس باندې	بیشکه مونږه	درانګې	بدله ورکوؤ مونږه
پریخوده	.....چې په الیاس علیه السلام دي سلام وی	.....بیشکه مونږ هم دغه شان نیکانو	
الْمُحْسِنِيْنَ ۝ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ۝	
نیکانو	خلقو له	بیشکه ووؤ هغه	دبندګانو زمونږ	مومنانونه
بندګانوته بدله ورکوو	بیشکه زمونږ د مومنانو بندګانو څنی وو	

قوله تعالی:: وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۘ

دحضرت الياس ذکر: بعضې وائی چه دحضرت ادريس عليه السلام نوم الياس وو(۱).وهب رحمه الله وائي چه دهغه سلسله نسب څه داسې ده.الياس بن نسي بن فخاضی ابن عيزاربن هارون بن عمران عليه السلام.(۲)حزقيل عليه السلام نه پس دوی بنی اسرائيلوته نبی اوليږلې شو.هغه خلق دبعل نومې بت سجده کونکی وو.الياس عليه السلام ورته داسلام دعوت ورکړو.دهغوی بادشاه دعوت قبول کړوخوبيامرتدشواوخلقو ئې هم سرکشۍ کوله ، او ايمان راوړلونه ئې انکاراوکړو.الياس عليه السلام هغوی دپاره بددعااوکړه.دړې کالوپورې باران اونه شو .دوی ډيرتنګ شول اوقسمونه ئې خوړل شروع کړل چه تاسودعااوکړئ دباران کيدلوسره به مونږايمان راوړو.نوالياس عليه السلام په دعاباندې وريخونه باران اوشو.خوداکافران دخپلې وعدې نه واوښتل،اوخپل کفرئې بياشروع کړو.الياس عليه السلام چه کله داحالت اوليدونوالله تعالی ته ئې دعااوکړه چه دوی خپل طرف ته بوځه.دهغوی سره حضرت يسع بن اخطوب عليه السلام وو،دحضرت الياس عليه السلام ددعانه پس هغه حکم ملاؤشوچه يوخائی ته لاړشه اوهلته چه درته کومه سورلی ملاؤشوه په هغې باندې سورشه.هلته هغوی ته يود اووراس ملاؤشوچه په هغې باندې هغه سورشو. الله تعالی هغه هم نورانی کړو او پخپلو ورځو باندې الوتل شروع کړل اويوه انسانی فرښته دزمکې اواسمان شوه.ددې دصحت علم الله تعالی ته دې. او دا خبره داهل کتاب درواېت مطابق حضرت الياس عليه السلام خپل قوم ته فرمانيلې وه چه تاسوالله تعالی نه ويريږئ؟

چه دهغه نه سوادنوروعبادت کوې!اهل يمن اوقبيله ازدشنوه رب ته به بعل وئيلو(۳).دبعل نومې کوم بت چه به هغوی عبادت کولوهغه يوه ښځه وه.دهغوی دښارنوم هم "بعلبك"وو.(۴)

نودالله تعالی نبی حضرت الياس عليه السلام فرمائی چه تعجب دې په تاسوباندې چه تاسوالله تعالی چه هغه دټول کائنات مالك دې اوبهترين خالق دې په ځائې يوبت ته عبادت کوې.الله تعالی د ستاسو ټولو او ستاسونه مخکښی دستاسودپلارنيکه دعبادت لائق دې.دهغه نه علاوه څوك هم دهيڅ قسمه عبادت لائق نشته.

خودې خلقودالله تعالی دپاك نبی صفااوخيروالانصيحت اونه منلونوالله تعالی په دوی باندې عذاب نازل کړو.چه دقيامت په ورځ باندې به دوی نه سخت تپوس کيږی اودوی ته به سخت عذاب ورکولې کيږی.اوپه دوی کښی چه څوك په توحيدباندې ووهغه بچ شول.

مونږدحضرت الياس ثناء اوښه ذکرپه نوروخلقوکښی هم پريخودوچه دهرمسلم ژبه په هغه باندې سلام اودرود وائی.په لفظ الياس کښی دويم لغت الياسين دې.ځنګه چه اسماعيل اواسماعين په بنو اسد کښی دغه شان لغت دې.ديوتميمی په شعرکښی هم دالغت دغه شان استعمال شوې دې.

ميکائيل ته ميکال اوميکائن هم وئيلې کيږی.ابراهيم ته ابراهام،اسرائيل ته اسرئين،طورسيناته طور سينين .يعنی دالغت په عربۍ کښی مشهوردې.

دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه په قرات کښی ﴿سَلٰمٌ عَلٰی اِلْ يَاسِيْنَ﴾ دې.بعضې وائی چه ددې نه مرادحضرت محمد ﷺ دې.مونږدغه شان نيك خلقوته نيکه بدله ورکوو.يقيناهغه زمونږپه نيك بندګانوکښی وو.ددې جملې تفسيرمخکښی تيرشوې دې.والله اعلم.

---

۱) الطبری : ۹۵/۲۱.
۲) الطبری : ۹۷/۲۱.
۳) الطبری : ۹۶/۲۱.
۴) الطبری : ۹۷/۲۱.

Scanned with Ca

وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ اِذْ نَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳۴﴾

او بیشکه لوط علیه السلام | درسولانو نه وؤ | کله چی | بچ کړو مونږ هغه | او اهل دهغه تول

او بیشکه لوط علیه السلام هم د پیغمبرانو څنی وو | څه وخت چې مونږ هغه او دهغه متعلقین تول بچ کړل

اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۶﴾

بغیر د یوې بوډۍ نه | چې په روستو پاتې کیدونکو کښې وه | بیا هلاک کړل مونږه | باقی نور (تول)

خو بس یوه بوډۍ (هلاکه شوه) | چې په روستو پاتې کیدونکو کښې وه | بیا مونږ تول خلق تباه کړل

وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَبِالَّيْلِ ؕ

او بیشکه تاسو | خامخا تیریږئ | په هغوئ باندې | په صبا کښې | او په شپه کښې |

او تاسو خلق صبا بیګاه دهغوئ په علاقو تیریږئ | نو آیا تاسو نه پوهیږئ

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ؕ اِذْ

ایا پس نه چلوئ عقل تاسو | او بیشکه یونس علیه السلام | درسولانو نه وؤ | کله چی |

(چه دهغوی د تباهئ نه عبرت واخلئ) | او یونس علیه السلام هم د پیغمبرانو څنی وو | څه وخت

اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۴۰﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ

هغه اوتښتیدو | کشتئ ډکې ته | نوپه خسنړی کښې شریك شو | پش شو |

چې اوتښتیدو (اویوې) ډکې بیړئ ته اورسیدو | .....نو په خسنړی کښې شریک شو

مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۱۴۲﴾

دبیلات کونکونه په قرعه اندازئ کښې | پس تېر کړو هغه لره | مهی | او هغه ملامته وؤ |

نو د بیلات کونکو څنی شو | بیا دې یومهی لوړ تیر کړو | (اوحال دا وو) چې دې (سخت) پښیمانه وو

فَلَوْلَاۤ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ لَلَبِثَ

پس که چرې نه وې دا خبره | چې ووؤ هغه | دتسبیح ویونکونه | نو خامخا به ئې وخت تیرولې |

بیا که چرې دې دالله ﷻ تسبیح کونکې نه وو | نو ددغه مهی په خیټه .....

فِيْ بَطْنِهٖۤ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ فَنَبَذْنٰهُ

په خیټه دمهی کښې | دهغه ورځې پورې چې راپاسولې کیږی خلق | پس اوغورزوؤ مونږ هغه

کښې به ترقیامته پروت وو | نومونږ دې په یو هوار میدان کښې واچولو | چې دیر

بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ﴿۱۴۵﴾ وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً

په ډاګه | او هغه ناجوړه (کمزورې) وؤ | او رااوخیژوله مونږه | په هغه باندې | ونه |

کمزورې شوې وو | اومونږ په ده باندې یوه زیلئ داره ونه رازرغونه کړه |

مِّنۡ يَّقۡطِيۡنٍ ۚ	وَاَرۡسَلۡنٰهُ	اِلٰى مِائَةِ اَلۡفٍ	اَوۡ يَزِيۡدُوۡنَ ۚ
زبلو والا (کدو)	او اولیږو مونږه هغه	یولاك خلقو ته	یا زیاتوته ددې نه
او مونږ دې یو لاکهۀ یا ددې نه زیاتو خلقو طرفته لیږلې وو			
فَاٰمَنُوۡا	فَمَتَّعۡنٰهُمۡ	اِلٰى حِيۡنٍ ۞	
پس هغوئ ایمان راوړو	پس نفع ورکړه مونږ هغوئ له	ډخاص وخته پورې	
نو دوئ ایمان راوړو	نو مونږ دوئ ته یو مقرر وخته پورې (د دنیاوی ژوند) فائده ورکړه		

قوله تعالیٰ:: وَاِنَّ لُوۡطًا لَّمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞

د حضرت لوط علیه السلام ذکر: الله تعالی دبنده اودهغه رسول حضرت لوط علیه السلام ذکردې چه هغه هم خپل قوم نه وومنلی.چه په هغوی باندې دالله تعالی عذاب راغلو.اوالله تعالی خپل خوږنبی حضرت لوط علیه السلام ته سره دخپل کورواوحفاظت ورکړو.خودهغوی ښځه غرقه شوه،دقوم سره هلاك شوه اوټول قوم ئې هم تباه شو.قسم قسم عذابونه په هغوی باندې راغلل اوکوم خائې کنبی چه به هغوی اوسیدل هغه خائې کنبی یوبدبوداره تالاب جوړشو.چه دهغې اوبه سخا رنګ والاوې.اوهغه دتګ راتګ په لارکنبی وو،چې تاسو شپه ورځ په هغه لارباندې تلل راتلل کوئی اوداخوفناك اوخراب خائې تاسو سحرمابنام لیدلو.نوددې لیدلوسره هم تاسو ته عبرت نه حاصلیږی.اوتاسوسوچ نه کوئ؟چه دوی څنګه بربادکړې شول؟چرته داسې نه وی چه داعذاب په تاسوباندې هم راشی.

د یونس علیه السلام ذکر: دحضرت یونس علیه السلام قصه په سوره یونس کنبی ذکرشوې ده.دبخاری اومسلم په حدیث کنبی دی چه یوانسان ته هم داجائزنه دی چه هغه اووائی چه زه دیونس بن متی نه افضل یم.دانوم کیدیشی چه دهغه دپلاروی (۱) یاداهم ممکن ده چه دهغه دموروی.دوی په منډه باندې دمال اودولت نه ډکې کشتۍ کنبی سورشو هغه په غرقیدو شوه.هلته قرعه اندازی اوشوه،اودوی مغلوب شول.دکشتۍ حرکت کولوسره د څلوروطرفونه طوفان راغلو.تردې چه ټولوته دخپل مرګ اودکشتۍ د ډوبیدو یقین اوشو. ټولوپه خپلوکنبی اووئیل چه قرعه اندازی اوکړئ اوچه دچانوم راوتلوهغه سمندرته اوغورځوئ چه ټول بچ شواوکشتۍ د دې طوفان نه اوځی.درې.څله قرعه اندازی اوشوله اودرې واړه څله دالله تعالی دپیغمبرحضرت یونس علیه السلام نوم راوختلو.دکشتۍ والاحضرت یونس علیه السلام سمندرکنبی غورخول نه غوښتل خو باربار د حضرت یونس علیه السلام نوم راختلو.اوبیایونس علیه السلام پخپله باندې کپړې ویستلې اودهغه خلقودمنع کولونه پس هم ئې سمندرته ورټوپ کړل.دغه وخت دبحراخضریوغټ کب ته دالله تعالی حکم شوچه په دریابونوکنبی لاړشی اویونس علیه السلام ژوندې تیرکړی،اونه دې دهغه بدن زخمی شی اونه دې څه هلوکې مات شی.نودغه کب دالله تعالی نبی ژوندې تیرکړواوپه سمندرکنبی ئې حرکت شروع کړو.

قوله تعالیٰ:: وَاِنَّ يُوۡنُسَ لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞

د یونس علیه السلام د مچۍ په خیټه کنبې سجده او دعا: کله چه یونس علیه السلام پوره دکب خیټې ته لاړونودهغه خیال ووچه زه مړشوې یم.خوچه کله ئې خپولاسونوته حرکت ورکړوهغه خوزیدل.نودژوندیقین ورته اوشواوودریدواوهلته ئې مونځ شروع کړواوالله تعالی ته ئې عرض اوکړواې پروردګارامادستادپاره په داسې ځائې کنبی جمات جوړکړوکوم ځائې ته به چه څوك نه وی رسیدلې.دریې ورځې یااووه ورځې یاځلویښت ورځې یایوه ورځ یادیوې ورځې نه هم څه کم یایوه شپه دکب په خیټه کنبی وو.که دې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی (وان یونس لمن المرسلین) : ۳٤۱٦. صحیح مسلم :۲۳۸٦.

زمونږ صفت بیانولووالانه وو،یعنی څنګه چه دامن اوفراخ؛ په زمانه کښې ووکه هغه وخت دهغه نیکیانې نه وې.یوحدیث هم دغه شان دې چه هغه به زربیان کړې شی.انشاء الله.

دابن عباس په حدیث کښې راغلی دی چه دارام اوراحت په وخت کښې دالله تعالی عبادت کوې نوهغه به سختې؛ په وخت کښې دستامدداوکړی.داهم وئیلی شوی دی چه که دې دمونځ پابندنه وې(۱).اوداهم وئیلی شوی دی که ده دکب په خیټه کښې مونځ نه وې کړې اوداهم وئیلی شوی دی که ده﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ﴾ سره زمونږ تسبیح نه وې کړې.(۲)نوپه قران مجید کښې ارشاددې چه هغه په تیاروکښې هم دغه کلمې اووئیلې اومونږ دهغه دعاقبوله کړه اوهغه ته مودغم نه خلاصې ورکړو. او هم دغه شان مونږ مومنانوته خلاصې ورکوو.

د یونس ﷺ ددعا متعلق حدیث::دابن ابی حاتم په یوحدیث کښې دی چه حضرت یونس ﷺ چه کله دکب په خیټه کښې داکلمې اووئیلې نودادعادالله تعالی عرش سره اوخته راوخته نوفرښتواووئیل یاالله دا اوازخودې یرلرې دې.خوداواززمونږ غوږونه پیژنی.الله تعالی اوفرمائیل اوس موهم اوپیژند دا د چا اوازدې؟هغوی اووئیل نه مودې پیژندلې.اوئې فرمائیل زمادبنده یونس اوازدې.فرښتواووئیل دهغه یونس چه دهغه نیك عملونه اوقبول شوې دعاګانې هروخت په اسمان کښې وی؟اې الله ته ضرورپه ده باندې رحم اوکړه.دده دعاقبول کړه هغه خوبه په اسانتیاکښې هم دستانوم اخستلې دې.هغه ته دمصیبت نه خلاصې ورکړه.الله تعالی ارشاداوفرمائیلو.اوزه به ده ته خلاصې ورکوم.نوکب ته حکم اوشوچه میدان کښې حضرت یونس ﷺ بهرته اوغورځوه.اوهغه اوغورځو اوهم هغلته الله تعالی په هغه باندې دکمزورئ اوبیماری؛ په وجه باندې دسوری دپاره دکدوونه راویستله اویوه څنګلی چیلې نې پرې مقررکړه(۳) چه هغه به سحر مابنام دیونس ﷺ خواه ته راتله او هغوی به نې پئ څکل.

دابوهریره ﷺ په روایت باندې دا خبرې دسوره انبیاء په تفسیر کښې مرفوع حدیث سره تیرې شوې دی.مونږ هغه په داسې زمکه کښې واچوکوم څائې چه شین والې،اوواخه څه هم نه وو.ددجله یادیمن په زمکه باندې هغوی غورځولې شوې وو.یونس ﷺ کښې هغه وخت هیڅ څه طاقت نه ووڅنګه چه د مرغو بچی وی،یاماشوم چه کوم وخت پیداشی.یعنی صرف نې ساه اخستلې شوه اودخوځیدونه وو ،

یقطین: دکدوبوټی ته هم وئیلې کیږی (۴)اوهرهغه ونې ته وئیلې کیږی چه دکومې تنه وی.اودهغه ونې ته هم دکومې عمرچه دکال نه زیات نه وی.

دکدو د ونې فائدې::په کدوکښې ډیرې فائدې دی،دادیرزرکیږی اوغټیږی.ددې دپانړوسورې زیات اومیوه نې خائسته وی ځکه چه هغه غټې غټې وی اودې ته ماشی نه راځی اودادخوراك په کارراځی، او دپوستکی اوګودې سره خوږلې کیږی.صحیح حدیث کښې دی چه د حضور ﷺ کدوډیرزیات خوښ وو،اودلوخی نه به نې صفاکولو.(۵)اوبیاهغه دیولاکه بلکه دزیات خلقو طرف ته پیغمبرجوړکړې شو.ابن عباس ﷺ فرمائی چه دټولونه مخکښې هغه پیغمبرنه وو.حضرت مجاهد ﷺ فرمائی،چه دکب خیټې ته تلونه مخکښې هغه رسول جوړکړې شوې وو.په دواړوقولوکښې تضادداسې ختمیدیشی چه مخکښې هم هغوی ته دې پیغمبرلیږلې شوې وواودکب خیټې ته تلونه پس هم په دویم ځل باندې هغوی ته اولیږلې شو. او علامه بغوی روایت کوی چې دمخکښې قوم نه علاوه بل قوم ته اولیږلې شو ا و

---

(۱) احمد:۱/۳۰۷ وسنده حسن.
(۲) الطبری :۲۱/۱۱۰.
(۳) الطبری :۲۱/۱۱۰.
(۴) الطبری :۲۱/۱۱۳.
(۵) صحیح بخاری کتاب البیوع باب الخیاط : ۲۰۹۲. صحیح مسلم: ۲۰۴۱.

Scanned with Ca

یزیدون دلته اودبلکه په معنی کښی استعمال شوې دې اودیولاکھ نه زیات یاددې نه هم زیات یایولاکھ څلویښت زرونه زیات،یاداویازرونه هم زیات،یایولاکھ لس زره،اوپه یوغریب مرفوع حدیث کښی دی چه یولاکھ شل زره وو.(۱) دا مطلب هم بیان شوې دې چه دانسانانواندازه دیولاکھ نه زیاته وه.دابن جریرهم دغه مسلك دې اوهم دغه طریقه ددې ایت ((أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً)) اوایت «**واشد خشیة**»اوایت **اوادنی** کښی هم ده،یعنی ددې نه کم نه وو،ددې نه زیات دی. نو د یونسﷺ ټول قوم مسلمان شو،حضرت یونسﷺ ئې اومنولو،اوپه الله تعالی باندې ئې ایمان راوړو.اومونږهم دهغه مقرروخت یعنی دمرګ وخت پورې ورته ددنیافائدې ورکړې.اوپه بل ایت کښی دی چه دکلی ایمان هغه ته (دعذاب راتلونه پس)فائده ورنه کړه سوادیونس دقوم نه.کله چه هغوی ایمان راوړونومونږدهغوی نه عذاب لرې کړواوهغوی ته مودیومقررشوې میعادپورې فائده ورکړه.

فَاسْتَفْتِهِمْ	أَلِرَبِّكَ	الْبَنَاتُ	وَلَهُمُ	الْبَنُونَ ﴿۱۴۹﴾ أَمْ خَلَقْنَا
پس تپوس اوکړه ددوئ نه چې آیا رب ستا لره دی	لونړه	او دوئ لره دی	خامن	ایا پیدا کړی دی مونږه
نو اوس ددوئ نه تپوس اوکړه	چې آیا ستاد رب لونړه دی	او ددوئ دپاره خامن دی		ایا مونږ فرښتې
الْمَلٰٓئِكَةَ	إِنَاثًا	وَّهُمْ شٰهِدُونَ ﴿۱۵۰﴾	أَلَآ	إِنَّهُمْ مِّنْ إِفْكِهِمْ
فرښتې	ښځې	او دوئ حاضر ووُ	ښهٔ واوړه	بیشکه دوئ	دروغو خپلو نه
ښځې پیدا کړی دی	اودوئ (د پیدا کولوپه وخت) موجود وو	خبر دار	یقینا دوی دروغ	
لَيَقُولُونَ ﴿۱۵۱﴾	وَلَدَ اللّٰهُ	وَإِنَّهُمْ	لَكٰذِبُونَ ﴿۱۵۲﴾	أَصْطَفَى
خامخا وائی	چې څوئې راوړې دې الله	او بیشکه دوئ	دروغژن دی	ایا غوره کړی دی الله
وائی	.....چې دالله ﷻ اولاد دې	او دوئ بیخی دروغژن دی		.....ایا دالله ﷻ
الْبَنَاتِ	عَلَى الْبَنِينَ ﴿۱۵۳﴾	مَا لَكُمْ	كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿۱۵۴﴾	
لونړه	په خامنو باندې	څه شوی دی تاسو لره	څرنګې حکمونه لګوی تاسو	
دخامنو په مقابله کښې لونړه زیاتې خوښې دی	اداپه تاسوڅه شوی دی	اداڅنګه غلطې فیصلې کوئ		
أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿۱۵۵﴾	أَمْ لَكُمْ	سُلْطٰنٌ مُّبِينٌ ﴿۱۵۶﴾	فَأْتُوا	
ایا نصیحت نه قبلوئ تاسو	یا شته تاسو لره	دلیل	ښکاره	پس راوړئ
بیاتاسو ولې نه پوهیږئ	.....اوکه تاسو سره په دې خبره څه ښکاره دلیل وی		نو هغه	
بِكِتٰبِكُمْ	إِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِينَ ﴿۱۵۷﴾	وَجَعَلُوا	بَيْنَهُ
کتاب خپل	که یئ تاسو	رښتینی	او جوړه کړی ده دوئ	په منځ دالله کښی
خپل (زور) کتاب مو وړاندې کړئ	که تاسو رښتونی یئ	اودوئ دالله ﷻ اودپیریانو		
وَبَيْنَ الْجِنَّةِ	نَسَبًا	وَلَقَدْ عَلِمَتِ	الْجِنَّةُ	إِنَّهُمْ
او په منځ دفرښتو کښی	دنسب رشته	او بیشکه معلومه ده	فرښتو ته	چې بیشکه دوئ به
په مینځ کښې ترمینزه هم یوه خپلوی جوړه کړې ده	اوپخپله دپیریانود	عقیده ده	چې هغوئ به (الله ته)	

(۱) ترمذی کتاب تفسیر القران باب ومن سورة الصافات : ۳۲۲۹.

لَمُحْضَرُوْنَ ۙ	سُبْحٰنَ اللّٰهِ	عَمَّا	يَصِفُوْنَ ۙ	اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ
خامخا حاضر کړي کيږي	پاکی ده د الله	دهغې نه	چی دوئ ئې بيانوی	سوا دبندګانو دالله نه
حاضرولې شی	(يادساتئ) چې الله ﷻ دهغه خبرو نه پاک دي		کومې چې داخلق بيانوی	سوا د هغه
الْمُخْلَصِيْنَ ۝				
چی خالص کړي شوی دی				
د الله تعالی د خاص بندګانو				

قوله تعالی:: فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنٰتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ۝

دمشرک بې وقوفی چه فرشتې دالله تعالی لونړه دی: الله تعالی دمشرکانوبيوقوفئ بيانوی چه دخپل ځان دپاره خوهلکان خوښوی اودالله تعالی دپاره لونړه مقررکوی.که دجينئ کيدوخبرواوړی نومخونه ئې تور شی، اود الله تعالی لونړه ثابتوی.نوفرمائی چه دهغوی نه تپوس اوکړئ چه داتقسيم څنګه دي چه دستاسودپاره هلکان وی اودالله تعالی دپاره جينکئ وی.بيافرمائی چه دوی فرښتوته جينکئ په څه ثبوت باندې وائی؟ددوی دپيدائش وخت کښی دوی موجودوو؟دقران يوبل ايت ﴿وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ﴾ کښی هم دغه بيان شوی دي.

د مشرکانو دړې کفرونه او دړې دروغ:: دهغوی داقول صرف دروغ دی چه دالله تعالی بچی شته،هغه داولادنه پاک دي.نودهغه خلقو دری دروغ اودړې کفرونه اوشول.رومبې خوداکفرچه فرښتې دالله تعالی اولاد دي،اودويم داچه اولاد کښی لونړه،دريم داچه دفرښتوعبادت ئې شروع کړو.بيافرمائی چه اخرالله تعالی څه ځيزمجبورکړوچه هغه هلکان خووانه اخستل اودخان دپاره ئې لونړه خوښې کړې؟څنګه چه بل ايت دي چه تاسوته خوهلکان درکړی اودخان دپاره لونړه داځومره فضول خبره ده.دلته فرمائی چه په تاسوکښی عقل نشته چه داسې دعقل نه منلووالاخبرې کوې.تاسوته معلومه نه ده چه الله تعالی باندې دروغ ونيل څومره بدکاردي؟ اوکه څه دليل دتاسوسره وی نوهغه راوړئ.ياکه ديواسمانی کتاب نه تاسوسره څه دليل وی نوهغه راوړئ.ياداداسې فضول خبره ده چه دهغې څه عقلی يانقلی دليل نشته.اوهم په دومره باندې بس نه دي بلکه دپيريانوئې دالله تعالی سره رشته جوړه کړه.دمشرکانوپه دې قول سره چه فرښتې دالله تعالی لونړه دی.

حضرت صديق اکبر رضی الله عنه تپوس اوکړو،چه بيادهغوی ميانديځوک دی؟نوهغوی اووئيل د سردارنو پيريانو لونړه([1]).اوپيريانوته پخپله ددې علم اويقين دي چه ددې خبروکولووالابه دقيامت په ورځ باندې په عذابوکښی وی.په دې کښی دالله تعالی څه دښمنان خوتردې پورې کم عقلی کوی چه شيطان ته هم دالله تعالی رورواني.نعوذبالله.

الله تعالی ددې نه بالکل پاک اولړې دي.کوم مشرکان چه دا الزامونه لږوی، دروغ وائی،دهغې نه پس د ده د مثبت نه، خوپه دې صورت کښی چه **يصفون** دضميرمرجع ټول خلق دی.نوددوی نه ئې هغه خلق بيل کړل کوم چه حق منی.اوپه ټولوتبيانواورسولانوباندې ايمان راوړی.امام ابن جرير رحمه الله فرمائی چه دااستثناء **انهم لمحضرون** نه ده.يعنی دوی ټولوته به عذاب ورکړې شی.خودالله هغه بنديان کوم چه داخلاص والاووداقول لږغورغوښتونکې دي.والله اعلم.

---

[1]) الطبری :۱۲۱/۲۱.

Scanned with Ca

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ۝ مَا أَنْتُمْ

| پس بیشکه تاسو | او هغه چې تاسو ئې عبادت کوئ | نۀ یئ تاسو |

نوتاسو اوستاسو ټول معبودان(چې راغونډشی نو)هیڅوک

عَلَيْهِ بِفَاتِنِينَ ۝ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ

دهغه نه (یعنی دالله نه) |اړونکی هیڅوا لره | مګر اړونکی یئ | هغه چالره | چې هغه | سوزیدونکی

دالله ﷻ نه اړولې نشی | .....سوا دهغه کس نه چې جهنم ته تلونکې دې

الْجَحِيمِ ۝ وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ مَقَامٌ مَعْلُومٌ ۝ وَإِنَّا

ددوزخ دې | او نشته دې زمونږ نه | مګر دې هغه لره | یو مقام مقرر کړې شوې | اوبیشکه مونږه |

او فرښتې وائی چې په مونږ کښې د هر یوې فرشتې دپاره یو خاص مقام دې| او دا مونږ

لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ۝ وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ ۝

خامخا مونږه | قطار کښې ولاړ خدمتګاران یو | او بیشکه مونږه | پاکی بیانونکی یو |

ټول په صف کښې په ادب ولاړ یو| .....اومونږ ټول (دهغه) پاکی بیانونکی یو

وَإِنْ كَانُوا لَيَقُولُونَ ۝ لَوْ أَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا

او بیشکه وۀ دوئ | چې وئیل به ئې | که چرې بیشکه وې | زمونږ سره | ذکر (یعنی یو کتاب) |

اودې خلقو(یعنی د مکې کافرانو) به وئیل | که مونږ ته دپخوانو خلقو پشان یود نصیحت

مِنَ الْأَوَّلِينَ ۝ لَكُنَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ۝

درومښو قومونونه | خامخا به وۀ مونږه | بندګان دالله | خالص کړې شوی |

کتاب راغلې وې | .....نو مونږ به ضرور د الله ﷻ خاص بندګان وو

فَكَفَرُوا بِهِ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ۝

(خوچې هغه کتاب راغې) نو انکار ئې اوکړو) | دهغې نه | پس ډیر زر به |معلومه شی دوئ ته(نتیجه ددې عمل)

بیادوئ ددې قران پاک نه انکار اوکړو | .....نوزر به (په خپل انجام) پوهه شی

قوله تعالی:: إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ۝

دمشرکانوانجام: الله تعالی مشرکانوته فرمائی چه دستاسود کفرګمراهي اوشرك تعلیم به هغه څوك قبلوی کوم چه ددوزخ دپاره پیداکړې شوې دی.کوم چه دعقل نه خالی په غوږونوکانړه اوپه سترګو رانده وی.کوم چه دځناورو په شان بلکه دهغوی نه خوبدتروی.ځنګه چه په بل ځائې کښی فرمائیلی دی چه ددې نه هم هغوی ګمراه کیدیشی چه هغوی ددماغونه خالی اودباطل خوښونکی دی.دهغې نه پس دفرښتودبرات اودهغه تسلیم اورضااوایمان اوبندګئ ذکردې چه هغوی پخپله وائی چه په مونږ کښی دهریودپاره یوخاص ځائې اویوخاص عبادت مقرردې.چه دهغې نه مونږنه لرې کیدې شواونه په هغې کښی زیاتې کمې کولې شو.دحضور ﷺ فرمان دې چه اسمان چق چق کوی اوورته چق چق کول پکارهم دی.په دې کښی دیوقدم ځائې هم خالی نشته چه هلته یوه فرښته رکوع،یاسجده کښی مصروف نه

Scanned with Ca

وی.بیاحضورﷺ دهغه دري ایتونوتلاوت اوفرمائیلو(۱).په یوروایت کښی "اسمان ددنیا"لفظ دی.ابن مسعودؓ فرمائی چه په اسمانونو کښی یولیشت خائې هم داسې نشته چه هلته دیوې فرښتې قدمونه یاتندي نه وی.(۲)

قوله تعالی:: وَّاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ۝

زمونږ مونځونو کښې صف بندی:حضرت قتادهؒ فرمائی چه مخکښی به سړواوښځویوځائې مونځ کولو خوددی ایت دنازلیدونه پس سړی ئې مخکښی کړل اوښځې ئې روستوکړې.اومونږتولې فرښتې په صفونوکښی دالله تعالی عبادت کوو.ایت **والصفت صفا** په تفسیرکښی ددې بیان تیرشوې دې.

ولیدبن عبدالله‌ؒ فرمائی چه ددې ایت نازلیدووخت پورې صفونه نه ووبیاصفونه هم مقرر شول. حضرت عمرؓ به اقامت نه پس خلقوطرف ته اوکتل اوبیائې اووئیل چه "صفونه صحیح کړئ اونیغ اودریږئ.الله تعالی دستاسونه هم دفرښتوپه شان صفونه غواړی ځنګه چه الله تعالی فرمائی((وَاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ)) ای فلانیه! مخکښی شه اوای فلانکیه روستوشه"بیابه مخکښی شواومونځ به شروع کړو.(۳)(ابن ابی حاتم)صحیح مسلم کښی دی چه حضورﷺ فرمائی چه مونږته دري داسې فضیلتونه راکړې شوې دی چه په هغې کښی نورڅوك زمونږسره نشته.زمونږصفونه دفرښتوپه شان جوړکړې شوې دی. زمونږدپاره تولې زمکه جمات جوړکړې شوې ده.اوزمونږدپاره دزمکې خاوره پاکولووالاجوړه کړې شوې ده.الخ (۴).مونږدالله تعالی صفت اوپاکی بیانولووالایو.دهغه بزرګی اولویې والې بیانولو والا یو. دټولونقصانونونه هغه پاك ګنړو.مونږټولې فرښتې دهغه غلامان یو.دهغه محتاج یو.دهغه مخکښی دکمزورې اوعاجزې اظهارکوو.نودادري واړه صفتونه دفرښتودی.داهم وئیلی شوی دی دتسبیح کولو والونه مطلب دمونځ کولووالادی.اویه ایت کښی دی.﴿قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا﴾ الخ، یعنی کافرانواووئیل چه د الله تعالی اولادشته.الله تعالی ددې نه پاك دې.البته فرښتې دهغه عزت والابندیان دی.دهغه فرمان منی. دهغه په حکمونوباندې عمل کوی.هغه دهغوی مخکښی روستوښه پیژنی.هغه چاته دسفارش اختیارهم نه ورکوی.سوادې نه چه دچادپاره الله تعالی راضی وی.هغوی خودالله تعالی دویرې نه ریږی.په هغوی کښی چه څوك ځان ته دعبادت لائق اووائی،مونږهغوی دوزخ ته غورځوو . د ظالمانو دپاره مونږسره هم دغه سزاده.

قوله تعالی:: وَاِنْ كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ۝

د کافرانو د یوې خبرې تردید:نبیﷺ هغوی ته ورغې اوهغې نه مخکښی به دوی وئیل که مونږته څوك راغلې وې،چه هغوی مونږته دالله تعالی لارخودلې وه اوزمونږنه دمخکوخلقوخبرې راته دنصیحت دپاره کړې وې اومونږته ئې دالله تعالی‌کتاب راوړې وې،نومونږبه دالله تعالی مخلص مسلمانان جوړشوې وې.

ځنګه چه په بل ایت کښی دی.﴿قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا﴾ الخ، یعنی دیرغټ غټ قسمونه خوری که دالله تعالی یونبی مونږته راغلې وې نومونږبه اطاعت قبول کړاودهدایت طرف ته به روان شوخوچه کله دالله تعالی نبی راغلونوهغوی اوتختیدل اویه یوایت کښی دی.﴿اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ﴾ نودلته ئې فرمانیلی

---

۱) کتاب الصلاة لابن نصر :۲۵۵،.

۲) الطبری :۱۲۷/۲۱،.

۳) الطبری :۱۲۸/۲۱.

۴) صحیح مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة : ۵۲۲، السنن الکبری :۸۰۲۲.

Scanned with Ca

دی چه کله دا خواهش ئې پوره شونوهغوی کفرشروع کړو.اوس به هغوی ته زرمعلومه شی چه دالله تعالی کفرکولووالااودنبیﷺ نه منلووالاڅه نتیجه وی.

وَلَقَدْ سَبَقَتْ	كَلِمَتُنَا	لِعِبَادِنَا	الْمُرْسَلِيْنَ ۝	
او په تحقیق سره مخکښی شوی ده	خبره زمونږه	دبندګانو زمونږ	رالیږلو شوو سره	
او د وړاندې نه زمونږ پیغمبرانو بندګانو دپاره دا فیصله شوې ده				
إِنَّهُمْ	لَهُمُ	الْمَنْصُوْرُوْنَ ۝	وَإِنَّ	جُنْدَنَا	لَهُمُ
چې بیشکه دوي چې دی	هم دوئ سره	امداد کیدې شی	او بیشکه لښکر زمونږه	هم دوئ به	
چې ددوئ به مدد کولې شی	.....		او هم زمونږ لښکر به غالب راځی		
الْغٰلِبُوْنَ ۝	فَتَوَلَّ	عَنْهُمْ	حَتّٰى حِيْنٍ ۝	وَّأَبْصِرْهُمْ	فَسَوْفَ
غالب وی	پس مخ واړوه	ددوئ نه	دڅه وخته پورې	اوګوره دوئ ته	پس ډیر زر به
نوتریو وخته پورې ددوئ دخبرو پرواه مه ساته	.....			اولږ ددوئ حال ته ګوره	
يُبْصِرُوْنَ ۝	أَفَبِعَذَابِنَا	يَسْتَعْجِلُوْنَ ۝	فَإِذَا	نَزَلَ	
دوئ اووینی پخپله	آیا پس عذاب زمونږ ته	تلوار کوی دوئ	پس هر کله چې	راکوز شی عذاب	
دوی به پخپله هم ډیر زر خپل انجام اووینی	.....	آیادوئ زمونږ عذاب ته تلوار کوی		انوڅه وخت	
بِسَاحَتِهِمْ	فَسَاءَ	صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ۝	وَتَوَلَّ	عَنْهُمْ	
صحن (انګړ) ددوئ ته	پس بد دې	صبا دیرولو شوؤ	او مخ اوګرزوه	ددوئ نه	
چې دغه عذاب ددوئ میدان ته راکوز شی	نو دویرولې شوؤ خلقو دپاره به ډیر خراب سحر وی			او ته	
حَتّٰى حِيْنٍ ۝	وَّأَبْصِرْ	فَسَوْفَ	يُبْصِرُوْنَ ۝		
دڅه وخته پورې	اوګوره	پس ډیر زر به	دوئ اووینی پخپله		
ترڅه مودې پورې ددوئ پرواه مه کوه	اودوئ ته ګوره				

قوله تعالی:: وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا

دالله لشکرغالب،همیشه غالب وی: دالله تعالی ارشاددې چه مونږپه مخکښی کتابونوکښی هم لیکلی دی اودنبیانوپه خولوموهم داوئیلی دی چه په دنیااواخرت کښی دالله تعالی دنبیانواونیك خلقوانجام ښه وی.ځنګه چه فرمائیلی دی.﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَأَغْلِبَنَّ﴾ اوفرمائیلی دی.((إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا)) یعنی زمارسول اوایمان دارخلق په دواړوجهانونوکښی غالب وی.دلته هم وئیلې شوی دی چه رسولانوسره زمونږوعده شوې ده چه هغوی منصوردی.مونږبه پخپله دهغوی مددکوو.تاسوګورئ چه دهغوی دښمنان به ځنګه په خاوروکښی ملاؤشول؟یادساتئ چه زمونږلشکربه غالبه وی.اواخرکښی به هغوی کامیاب وی.ته یومقرروخت پورې دصبراوستقامت معامله کوره،دهغوی په تکلیفونو باندې صبراوکړه،مونږبه تاپه ټولوباندې غالبه کړو.دنیااوکتل چه هم دغه شان اوشوه.اوته هغوی ته ګوره چه الله تعالی هغوی ځنګه نیسی. اوپه ځنګه ذلت اوتوهین سره به هغوی نیسی. دوی به ټولې رسوایانې پخپله وینی.حیرانتیاده چه دوړوکوعذابوسره اود غټو عذابونو معلومیدوسره هم دوی وانی چه کله به راځی؟نوبس هغه ته

جواب ورکړي شی چه کله دعذاب په میدانونوکښی،محلونوکښی،په صحن کښی،هغه ورځ به په هغوی باندې ډیره سخته وی.هلاك اوبرباد به شی.

قوله تعالی:: اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ۝

کفارو ته رټنه او په دوئ باندې تعجب:: صحیح بخاری کښی دی چه دخیبرپه میدانونوکښی حضورﷺ سحروختی دکافرانوپه بې خبرتیاکښی ورغې.هغه خلقودخپل عادت مطابق دپټوسامان راخستې وواوښارنه بهرئې دربانې فوج اولیدونو اوتختیدل اوښاروالوته ئې خبراوکړوهغه وخت کښی حضورﷺ هم دغه اوفرمائیل چه الله تعالی ډیرلوې دې خیبرخراب شو.مونږچه کله دیوقوم میدانونوته لاړ شو نو هغه خراب شی.(۱)بیانې په دویم ځل دړومبی حکم تاکیداوکړو.چه دځه وخت دپاره ددوی نه بې پرواه شه اودوی پریږده اودوی ته ګوره.

سُبْحٰنَ رَبِّكَ	
پاکی ده | رب ستاړه |	
رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ۝ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ۝	
چې رب دعزت دې | دهغه خبرونه | چې جوړوی ئې دا خلق | او سلام دې | په رسولانو باندې |	
نو ستارب چې دعزت خاوند دې | ددوئ د بیان کړوخبرو نه پاک دې | اوپه ټولو پیغمبرانو دې سلام وی	
وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝	
او ثناده | الله لره | چې رب دمخلوقاتو دې |	
اوټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی | چې دټول مخلوق رب دې	

قوله تعالی:: سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ۝

حمدالله اوسلام په پیغمبرانو: الله تعالی ددې ټولوځیزونونه خپل خلاصې بیانوی کوم چه مشرکانوالله طرف ته منسوب کړې دی.لکه اولاد،شریك وغیره.هغه دډیرې لویئ اوبې مثاله عزت والادې هغه دې وړواود دې دروغژنو اوافتراکونکو خلقودبهتان نه پاك دې.دالله تعالی په ټولورسولانوباندې سلام دې.ځکه چه دهغوی ټولې خبرې هغه عیبونونه پاکې دی کومې چه دمشرکانوپه خبروکښی دی.بلکه دنبیانو علیهم السلام هغه خبرې اوصفتونه کوم چه هغوی دالله تعالی د ذات بیانوی هغه ټولې صحیح اوپه حق دی.دهغه دذات دپاره ټول حمداوثناسزاواردی.په دنیاکښی د ابتداء نه د انتهاء پورې تعریف د هغه ذات دپاره دې. هغه په هرحال کښی دحمداوثناقابل دې.په تسبیح باندې دهرقسمه نقصان نه دهغه ذات دلری والی پته لږی نولازم ده چه هرقسمه کمالونه په هغه یواځی ذات کښی وی هغه په ښکاره الفاظوکښی دحمدنه ثابت کړې ده. دوی د پاره چه نقصان نفی اودکمالونو ثابت کیدل تړې اوشی .هم دغه شان دقران مجیدپه ډیروایتونوکښی دتسبیح اوحمدیوخانې ذکرشوې دې.دحضرت قتادهرحمه الله نه روایت دی.

چه حضورﷺ فرمائیلی دی چه تاسوپه ماباندې سلام وائې،اوپه نبیانوباندې هم سلام وائې،ځکه چه زه هم په هغه ټولونبیانوکښی یونبی یم.(۲)(ابن ابی حاتم) داحدیث په مسندکښی روایت شوې دې.ابویعلی کښی یوضعیف حدیث کښی دی چه حضورﷺ به کله دسلام اراده کوله نوهغه درې ایتونه به ئې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة خیبر:٤١٩٧. صحیح مسلم: ١٣٦٥.

(۲) الطبری :١٣٤/٢١. .

علمی وعظونه

او تقریرونه

مرتب: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس،

امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده

خصوصیات

① دمختلفو تقریری کتانونو نه د موثرو تقریرینو انتخاب

② د موضوع د وضاحت دپاره د قرآنی آیاتونو نه استدلال

③ د موضوع د وضاحت دپاره د احادیثو نه استدلال

④ د موضوع د وضاحت دپاره د نیکانو خلقو د واقعات بیان

⑤ د موضوع د وضاحت دپاره د مثالونو بیان

⑥ د معاشرې د غلطو لارو چارو بندونه

⑦ د غلطو لارو چارو د اصلاح طریقه

خوروونکی

فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with Ca

اولوستل اوسلام به ئې اوکړو(۱).ابن ابی حاتم کښی دی چه کوم کس داغواړی چه په ښه پیمانه باندې هغه ته اجرملاؤشی نوچه دچاپه مجلس کښی هغه وی دهغه ځائې نه پاڅیدو وخت کښی دې هغه دادې ایتونه اولولئ.اوپه مسند کښی داروایت دحضرت علیؓ نه موقوفاروایت شوې دې.دطبرانی په حدیث کښی دی چه کوم کس دهرفرض مونځ نه پس دادې ایتونه اولولئ،هغه ته به پوره پیمانه باندې اجرملاویږی.دمجلس دکفارې باره کښی په ډیروحدیثونوکښی راغلی دی چه داوښل پکاردی."سبحانك اللهم وبحمدك لااله الاانت استغفرك اتوب اليك"(۲) ماپه دې مسئله باندې یومستقل کتاب لیکلې دې.

الحمدلله دسوره الصافات تفسیرختم شو.فالحمدلله.

ایاتونه		سورة صٓ وهي ثمان وثمانون اية وخمس ركوعات		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۸۷		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		۵
صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ۝۱ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا				
ص	قسم دې په قران	چې نصیحت والا دې	بلکه هغه کسان	چې انکار نې کړې دې
صاد	په قران پاک باندې قسم دې	چې دنصیحت نه ډک (کتاب) دې	بلکه دا کافر صرف	
فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝۲ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ				
په تکبر کښی دی	او په ضد کښی مبتلا دی	څومره ډیر هلاک کړی دی مونږ	مخکښی ددوئ نه	
په غرور اوپه مخالفت کښې پراته دی	.....	ددوئ نه وړاندې مونږ ډیر		
مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۝۳				
دقومونو نه	پس هغوئ چغې وهلی دی	اونۀ دی	هغه وخت	دخلاصیدو
قومونه هلاک کړی وو	نوهغوئ ډیرې نعرې سورې وهلې	خود خلاصی وخت تیرشوې وو		

قوله تعالی::وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ۝۱

د قران پاک په عظمت او فضیلت باندې د منکرینو ردّ نه او ویره:: حروف مقطعات.کوم چه دسورتونوپه شروع کښی راځی ددې تول تفصیل په سوره بقره کښی تیرشوې دې.دلته دقران قسم خوړلې شوې دې او دائې دنصیحت والاګرځولې دې.ځکه چه ددې په خبروباندې دعمل کولووالادین اودنیادواړه ښه شی.اوپه ایت کښی دی ((فِيْهِ ذِكْرُكُمْ)) په دې قران کښی دستاسودپاره نصیحت دې.اودامطلب هم دې چه قران شرافت بزرګی،عزت اوعظمت والا دې، او د دې قسم جواب دبعضوپه نزدخو ﴿اِنْ كُلٌّ اِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ﴾ بعضې وائی ﴿اِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ﴾ دې.خودا ډیرمناسب نه ښکاری.حضرت قتادهؒ فرمائی چه ددې جواب ددې نه پس ایت کښی دې (۳).ابن جریرهم دابنه بیانوی.بعضې عربیان وائی چه ددې جواب (ص)دې اوددې لفظ معنی صداقت او حقانیت ده.یوقول داهم دې چه دتول سورت خلاصه ددې قسم جواب دې.والله اعلم.

---

۱) ابن ابی حاتم :۱۲۵/۱۲ . الدر المنثور:۳۷۲/۸.

۲) ابو داود کتاب الادب باب کفارة المجلس : ۴۸۵۷ ، وسنده صحیح ، ترمذی : ۳۴۳۳، طبرانی : ۷۹/۱.

۳)الطبری : ۱۴۰/۲.

Scanned with Ca

بیافرمائی چه قران خوټول عبرت اونصیحت دي،خوددي نه فائده هغه څوك اوچتوی دچاپه زړونوکښی چه ایمان وی.کافرخلق ددي فائدي نه محروم دی چه هغوی کبرکونکی اومخالف دی.دوی دي دخان نه مخکښی دخان په شان دخلقوپه انجام باندي نظراوکړی اودخپل انجام نه دي ویریږی.مخکښی امتونه مونږهم په دي جرم باندي تهس نهس کړل.عذاب راتللوسره خولوي لوي خلق په ژړاشول،ډیري زاري اومنتونه ئي اوکړل،خودهغه وخت ټولي خبري بي فائدي وي.څنګه چه فرمائیلی دی.(فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا) زمونږعذابونه معلومیدوباندي دهغه نه بچ کیدل اوتختیدل غوښتل ، خو دا څنګه کیدیشی؟ابن عباسؓ فرمائی چه اوس دتختیدووخت نشته،نه دفریادوخت شته.هغه وخت هیڅ فریادنشی کیدي،چه څومره هم چغي اووهي،ټولي بي فائدي دی.اوتوحیدمنل،بي فائدي اوبي کاره دی.دابي وخته چغي دی.،،**لات**،، معنی ،،**لاده**،،،په دي کښی "ت" زیاته ده.څنګه چه **ثمت** کښی هم (ت) زیاته وی،اوپه **ربت** کښی هم،دامفضوله ده اوپه دي وقف دي.دامام ابن جریرؒ قول دی چه دا(ت)حین سره ملاؤده یعنی ،،**ولاتحین**،، دي خومشهورږومبیځ ده.زیاتو،،**حین**،، په زبرباندي وئیلي ده،نومطلب داچه هغه وخت دفریادکولونه دي.بعضي دلته زیروئیل هم جائزګنړلی دی.په لغت کښی (**نوص**) روستوتلوته وائی.(**بوص**) وائی مخکښی تلوته.نومقصددادي چه داوخت دتختیدونه دي.واللہ الموافق.

وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ	مُّنْذِرٌ	مِّنْهُمْ	وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ	هٰذَا سٰحِرٌ
اوتعجب اوکړودي خلقو چی راغي دوئ ته	یویرونکي	ددوئ نه	اواوئیل	کافرانو
اودوئ په دي خبره ډیر تعجب اوکړو	چې دوئ ته هم په دوی کښي یو ویرونکي راغلي دي		اوکافران وائی	
كَذَّابٌ ۝	اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ	اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ	اِنَّ	هٰذَا لَشَيْءٌ
سخت دروغژن	آیا ده اوګرځول ټول خدایان	خدائي یو	بیشکه	دا خو یو څیز دي
چې داخو یو درغژن جادوګردي	آیا د ددومره ډیرو خدایانو په ځائي صرف یو خدائي معبود جوړ کړو ؟			
عُجَابٌ ۝	وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ	مِنْهُمْ	اَنِ امْشُوْا	وَاصْبِرُوْا
ډیر عجیبه	او روان شو	مشران	دهغوئ نه	چې څئ
داخو ډیره عجیبه خبره ده	او ددوئ مشرانو په تلوتلو کښي اووئیل			او ټینګ شئ
عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ ۚ	اِنَّ	هٰذَا لَشَيْءٌ	يُّرَادُ ۝	
په خدایانو خپلو باندي	بیشکه	دا خو یو څیز دي	ارادہ کړي شوي دپاره دبل غرض	
په عبادت کلک ولاړ وسیږئ	دا نوي خبره ضرور یو داسي څیز دي چه اراده ئي کړي شوي ده			
مَا سَمِعْنَا	بِهٰذَا	فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا
نه ده اوریدلي مونږه	داخبره	په ملت (دین) روستنی کښی	نه دي دا هیڅ څیز	مګر
مونږ خو داخبره هیڅري په پخوانی مذهب کښي نه ده اوریدلي	داخو بس دخان نه جوړه شوي			
اخْتِلَاقٌ ۝	ءَاُنْزِلَ	عَلَيْهِ الذِّكْرُ	مِنْۢ بَيْنِنَا ؕ	
دخانه جوړکړي شوی دروغ دی	آیا نازل کړي شو	په ده باندي	دا ذکر (قران)	دمنځ زمونږ نه
خبره ده	آیا په مونږ ټولو کښي هیله په ده باندي دالله ﷻ کلام نازل شوي دي ؟			

Scanned with Ca

بَلْ هُمْ	فِيْ شَكٍّ	مِّنْ ذِكْرِيْ ۚ	بَلْ لَّمَّا يَذُوْقُوْا	عَذَابِ ۞
بلکه دوئ	په شك شك كښې دى	دذكر زمانه	بلکه نه دې څكلې دوئ	عذاب زما
(الله فرمائى) نه بلکه دوئ ته زما په نصيحت كښې شك دې بلکه تر اوسه ئې زما دعذاب مزه نه ده څكلې				
اَمْ عِنْدَهُمْ	خَزَآئِنُ	رَحْمَةِ رَبِّكَ	الْعَزِيْزِ	الْوَهَّابِ ۞ ۚ اَمْ لَهُمْ
آيا ددوئ سره دى	خزانې	درحمت درب ستا	چې غالب دې	ببنونكې دې
آيادوئ سره ستا د غالب او ورګونكى رب خزانې دى ؟				..... آيا دوئ سره
مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ	
بادشاهى	داسمانونو	او دزمكې	او دهغې چې په منځ ددې دواړو كښې دى	
داسمانونو اوزمكې اوددې په مينځ كښې چې څه دى دهغې واک اختيار دې				
فَلْيَرْتَقُوْا		فِي الْاَسْبَابِ ۞	جُنْدٌ	مَّا هُنَالِكَ
پس او دخيژى دوئ (آسمان ته)		په دنيادى اسبابو كښې	دوئ خو يو وړوكى لښكر دې	چې هم دلته
كه داسې وى نوبيا دوئ ته پكار دى		اچې د رسو په ذريعه (آسمان ته)	اوخيژى	اداهم د هغه ډلو نه يوه
مَهْزُوْمٌ	مِّنَ الْاَحْزَابِ ۞			
شكست خوړونكې دې		دډلو نه		
ډله ده	چا چې ماتې (شكست) خوړلې دې			

قوله تعالى:: وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ

د رسالت دمنكرينو تعجب او دهغه جواب؟ دحضورﷺ په نبوت باندې دكافرانو د خندا والا حيرانتياده، څنګه چه په دې ايت كښې دى. **(اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا)** چه خلق په دې خبره باندې حيران شول چه په هغوى كښې يوانسان ته مونږ وحى اوليږله چه هغه خلق هوښيار كړى اوايمانداروته ددې خبرې خوشخبرى وركړى چه هغه خلقودپاره دهغه سره ښه تيارى ده.كافران خوزمارسول ته جادوګروائى.نودلته دى چه په هغوى كښې هم دهغوى په شان يوانسان رسول راتلوباندې هغوى ته حيرانتياده اوهغوى به وئيل چه ته جادوګراودروزغژن ئې.درسول اللهﷺ رسالت سره دالله تعالى په توحيدباندې هم دهغوى شك وو،اووئيل چه ددې دومره زيات خدايانوپه بدله كښې ته وائې چه الله تعالى يودې،اودهغه څوك شريك نشته.دې بيوقوفانوته چه دخپلومشرانوكتلوپه وجه دكوم شرك عادت جوړشوې دې،دهغې خلاف اوازاوريدوپه وجه ددوى زړونه اودريدل شروع شول اودتوحيدناپيژندګلوخيزئې پيژندل شروع كړل.ددوى مشرانواوسردارانوپه كبرسره مخ اړولې وواواعلان ئې كړې ووچه چه پخپل زورمذهب باندې اوسئ اوددوى خبرې مه منئ اودخپل خدايانوعبادت كوئ.دا خوصرف دخپل مطلب خبره كوى.په دې بهانه باندې خپله خبره كوى چه تاسودده خبره اومنئ اودې دستاسومشرشى اوتاسوددې خبره منونكى.

ددې ايتونو دنزول وجه:: ددې ايتونودنازليدلووجه داده چه يوځل دقريشوسرداران راجمع شول چه په هغې كښې ابوجهل بن هشام،عاص بن وائل،اسودبن المطلب،اسودبن عبد يغوث وغيره هم وو.اوټولو په دې باندې فيصله اوكړه چه نن به دابوطالب سره اخرى فيصله كوو.هغه دې په انصاف سره يوه خبره زمونږپه ذمه كړى اويوه دې دخپل وراره په ذمه.ځكه چه هغه اوس اخرى عمرته رسيدلې دې. د ژوند ء

اخری وخت ئې دې که چرې هغه مړشواودهغه دمرګ نه پس مونږ محمد(ﷺ)ته څه نقصان ورکړو نودعربوخلق به مونږته خبرې کوی چه دهغه بوډاپه ژوندکښی مو ورته څه نه شووئیلی اودهغه دمرګ نه پس موخپله بهادری اوخودله.نودوی لاړل یوکس ئې اولیږلوهغه دابوطالب نه اجازت اوغوښتلو، د اجازت ملاویدونه پس دوی ټول کورته ورغلل.اوورته ئې اووئیل جناب‌ته زمونږ سردارئې، بزرګ ئې، مشرئې. مونږدستادوراره نه تنګ یو،تاسودانصاف سره زمونږ فیصله اوکړئ. ګورئ مونږدستاسونه انصاف غواړوهغه دې زمونږخدایانوته بدردنه وائی،اومونږدې نه په عذابوی. هغه ته اجازت دې چه وچاعبادت کوی خوزمونږخدایانوته دې څه نه وائی.ابوطالب یوکس اولیګلو او حضرت محمدﷺ ته ئې اوازاوکړو.اوورته ئې اووئیل،چه ای وراره ګورې‌اداستادقوم سرداران اومشران ټول راجمع شوی دی اودستانه صرف داغواړی چه ددوی خدایانوپسې خبرې مه کوه اودهغوی بې عزتی مه کوه.دوی ټول تاته په خپل دین باندې دعمل کولوازادی درکوی.حضورﷺ اوفرمائیل. ترځ! زه دوی دښه اوبهترین ښه والی طرف ته نه راغواړم؟ابوطالب ورته اووئیل هغه څه دی؟اوئې فرمائیل دوی دې یوه کلمه اووائی،صرف ددې وئیلوپه وجه باندې ټول عرب به ددوی دحکم لاندې شی اوپه ټولوعجموبه ددوی حکومت شی.ابوجهل ملعون تپوس اوکړوهغه اووایه هغه کلمه څه ده؟یوه نه مونږلس کلمې وئیلوته تیاریو.رسول اللهﷺ ورته اوفرمائیل چه اووائې. **لااله الاالله** دې اوریدوسره ئې اوازونه شروع کړل چه ددې نه علاوه ته څه غواړې هغه مونږدرکوو،حضورﷺ اوفرمائیل که تاسونمرهم زما په لاس کښی کیدئ نوبیابه هم زه دستاسونه ددې کلمې نه علاوه څه نه غواړم.دې خبرې اوریدو سره ټول خلق غصه شول اواودریدل اواوئې وئیل چه والله مونږتاته،اوستارب ته کنځل کوو.چاچه تاته داحکم کړې دې.دوی لاړل اودهغوی سردارانوهم داوئیل چه پخپل دین قائم اوسئ اودخپل خدایانو عبادت کوئ.معلومه شوه چه ددې خوارادە بل څه ده دې خوځان مشرکول غواړی.(ابن ابی حاتم وغیره)

یوروایت داهم دې چه دهغوی ډتګ نه پس حضورﷺ خپل تره ته اووئیل چه تاسوداکلمه اووائې.هغه اووئیل نه! زه خودخپل پلارنیکه اومشرانوپه دین باندې یم.په دې باندې الله تعالی خپل نبیﷺ ته اوفرمائیل چه چاته ته غواړې هدایت نشې کولې.اوروایت دې چه هغه وخت ابوطالب بیمارووه،اوپه هغه بیمارې کښی هغه مړشو.کوم وخت چه حضورﷺ تشریف راوړوهغه وخت دابوطالب سره دناستې دپاره دیوکس خانې خالی وو،نورټول کوردسرونه ډک وو. نوابوجهل خبیث داسوچ اوکړوکه حضورﷺ ابوطالب سره کیناستونوډیراثربه اوکړی،په دې وجه باندې هغه ملعون هلته پخپله کیناستواوحضورﷺ ددوازې خواه کښی کیناستو.حضورﷺ چه کله دیوې کلمې وئیلواوونیل نوټولو اووئیل چه یوه نه لس،مونږټول انتظارکووهغه کلمه څه ده؟اوچه کله ئې دحضورﷺ دژبې نه دتوحیدکلمه واوریده نوټول اړتخیدل.اووئې وئیل داواوری، دې خود ټولوخدایانونه یوخدای جوړوی.په دې باندې دا آیتونه دعذاب پورې نازل شول (۱).امام ترمذی دې روایت ته حسن وائی،مونږخوداخبره نه په خپل دین کښی ټیدلې ده اونه دنصرانیانوپه دین کښی.بالکل غلط اودروغ خبره ده.داځومره د حیرانتیاخبره ده چه الله تعالی ته ښکاره نه شوه اوپه هغه باندې قران نازل شو.څنګه چه په نورو آیتونوکښی دی.﴿ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴾ یعنې په دې دواړو ښارونو کښی په یولوې سړی باندې قران ولې نازل نه شو؟چه دهغې په جواب کښی د الله تعالی ارشاددې،چه داخلق دالله تعالی د رحمت تقسیمولووالادی.دوی خودومره محتاج دی چه خپله روزی اودرجې هم تقسیموی.یعنی دا اعتراض هم دهغوی دحماقت انتهاء ده. الله تعالی فرمانی دې،ددوی دشک نتیجه اووجه داده چه اوسه پورې

---

(۱) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة صاد : ۳۲۳۲.

Scanned with Ca

دوی لږه لږه خوړله.زمونږعذابونه نې نه وولیدلي.صبابه چه دقیامت په ورځ په دیکوباندې دوزخ ته غورځولې شی نوهغه وخت به دوی ته دخپلې سرکشۍ مزه ملاوشی.

قوله تعالی:: أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ

دالله تعالی قدرت: بیاخپله قبضه اوخپل قدرت ظاهروی،چه هغه څه غواړی کوی،چاته چه څه غواړی ورکړی، عزت اوذلت دهغه په لاس کښی دې.هدایت اوضلالت دهغه طرف نه دې.دهغه چه پخپلو بندګانو کښی په چاخوښه وی وحی نازل کړی اوچه دچاپه زړه باندې مهراولږوی.دبندګانوپه اختیار کښی څه هم نشته.هغوی بې بس،اومجبوردی.په دې وجه باندې فرمائیلې دی.چه دهغوی سره ددې لوې مرتبې والاخدې درحمتونوخزانې دی؟ یعنی نشته.څنګه چه فرمائیلی دی.﴿ أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ﴾ که دالله تعالی دخدایۍ څه حصه هغوی سره وې نودې شومانوبه چاباندې یوه ټکړه هم نه وه خوړلې.یاپه هغه خلقوباندې دالله تعالی فضل لیدوسره ددوی حسددې؟مونږدابراهیم اولادته حکمت اودیرلوې سلطنت ورکړې دې.په هغوی کښی بعضوخوایمان راوړواوبعضوایمان رانوړو.چه هغوی به ددوزخ خشاك جوړیږی.هغه اوردهغوی دپاره کافی دې.اوپه ایت کښی دی.﴿ قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّيٓ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْإِنفَاقِ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ قَتُورًا ۝﴾ یعنی که زمادرب درحتمونو خزانې دستاسوپه لاس کښی وې نوتاسوبه دکمیدودویرې نه خرچ کولې،انسان ناشکره دې.

قوله تعالی:: ءَأُنزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِن بَيْنِنَا ۖ

هم دا خبره د صالح علیه السلام قوم هم کړې وه:: د صالح علیه السلام قوم هم خپل نبی ته هم دغه وئیلی وو.﴿ءَأُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِن بَيْنِنَا﴾ یعنی مونږتول ئې پریخودواوپه ده باندې وحی نازل شوه؟نه اودې دروغژن اوشریردې.الله تعالی ورته اوفرمائیل چه صباته ئې معلومه کړئ چه داسې څوك دی؟بیائې اوفرمائیل چه په زمکه اواسمان باندې اختیاردچادې؟که داسې ده نوبیاداسمانونو په لاروباندې اوخیژئ،اووم اسمان ته اورسئ.داددې ځائې لشکربه هم زرشکست اوذلت اومومی.اومغلوب اوذلیل به شی.څنګه چه نورلوې لوې ګروپونه دحق سره اوجنګیدل او ختم شول.اوځنګه چه په ایت کښی دی.﴿أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ۝﴾ دهغوی قول دې چه مونږ ډیریو اوفتح به زمونږوی؟واورئ هغوی ته به شکست وی اوهغوی به شاته تختی اوکمزورې اوبدحواسه به وی.نودبدرپه ورځ دالله تعالی خدائې خبرې رښتیاثابتې کړې اودهغه دعذابونوورځ خودقیامت ورځ ده.چه هغه ډیره سخته اوبې انتهاوحشت اودهشت والاده.

كَذَّبَتْ	قَبْلَهُمْ	قَوْمُ نُوحٍ		
	دروغ ګنړلی دی | مخکښی ددوئ نه | قوم دنوح |			
	د دوئ نه وړاندې د نوح علیه السلام قوم			
وَّعَادٌ	وَّفِرْعَوْنُ	ذُو الْأَوْتَادِ ۝	وَثَمُودُ	وَقَوْمُ لُوطٍ
او عادیانو	او فرعون	میخونو والا	او ثمودیان	او قوم دلوط
اوعادیانو اوفرعون چې د میخونو ټک وهونکې وو اوثمودیانو او د لوط علیه السلام قوم				
وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ ۖ	أُولَٰئِكَ الْأَحْزَابُ ۝	إِن كُلٌّ	إِلَّا	كَذَّبَ الرُّسُلَ
او ایکه والو	داوې لوئې ډلې	نه وو دا ټول	مګر	دروغ ئې ګنړل رسولان
اودبنړاوسیدونکو هم خپل پیغمبران درغژون ګنړلی وو اهم دالوئې لوئې ډلې وې اودئ ټولوخپل				

Scanned with Ca

فَحَقَّ	عِقَابِ ﴿۱۴﴾	وَمَا يَنظُرُ	هَٰؤُلَاءِ	إِلَّا	صَيْحَةً	وَاحِدَةً
پس ثابت شو په هغوئ	عذاب زما	اونه کوی انتظار	دا خلق	مکر	دیوې چغې	
رسولان دروغژن ګنړلی وو	نوزما دعذاب مستحق شو	اوداخلق صرف دیوې درنې چغې انتظار کوی				
مَّا لَهَا	مِن فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾	وَقَالُوا	رَبَّنَا	عَجِّل	لَّنَا	قِطَّنَا
چې نشته هغې لره	څه وقفه	اووائی دوئ	اے ربه زمونږه	زر راکړه	مونږ ته	حصه زمونږه
چې دهغې په مینځ کښې به هیڅ وقفه نه وی	اوداخلق د(توقو په طوروائی)	چې ائې زمونږ ربه! دحساب د ورځې				
قَبْلَ	يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۱۶﴾					
مخکښې	دورځې دحساب نه					
نه مخکې مونږ ته زمونږ(دعذاب) حصه راکړه						

قوله تعالیٰ:: كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ

دکافرانوپه خنداباندې صبرکوئ: ددې ټولوخبرې څوځله بیان شوی دی چه څنګه په هغوی باندې دهغوی د ګناهونوپه وجه باندې دالله تعالی عذاب راغې.هم داهغه لشکرې دی چه هغوی په مال اولاد،طاقت اوقوت،زوراوزمکه کښې دستادزمانې دهغه نوروکافرانونه ډیرزیات وو.خودالله تعالی دحکم نه پس د هغوی هیڅ څیزپه کاررانغلو.بیادهغوی دتباهئ وجه بیان کړې ده چه هغوی درسولانودښمنان وو، هغوی ته به ئې دروغژن وئیل.هغوی ته صرف شپیلې انتظاردې اوپه دې کښې هم څه ناوخته نه دې. پس هغه به یواوازوی چه دچاغورځونوته اورسیدو،بې هوشه اوبې ساه به وی.دهغه خلقونه علاوه کوم چه الله تعالی تړې نه ساتلی دی.د ،،قط،، معنی دکتاب اوحصې ده.دمشرکانودبیوقوفئ اودهغوی دعذابونو نه منلوپه وجه باندې دهغه دغوښتلوذکردې.څنګه چه په بل ایت کښې دی چه هغوی اووئیل چه ای الله!که داصحیح ده نوپه مونږباندې داسمان نه کانړی اووروه.یابل څه دردناك اسمانی عذاب راوله.اوداهم وئیلی شوی دی چه هغوی دخپل جنت حصه دلته اوغوښتله.اوچه څه ورته وئیلی شوی دی دوی به هغه دروغ ګنړل.دابن جریر رحمه الله قول دې.چه دکوم خیراوشرهغوی په دنیاکښې مستحق ووهغه هغوی زراوغوښتل.هم دغه خبره صحیح ده.([1])دضحاك اواسماعیل بن ابی خالد دتفسیرحاصل هم دغه دې. والله اعلم.نوالله تعالی دهغوی دخنداواودروغ ګنړلوپه بدله کښې خپل نبی ﷺ ته صبرکولوتلقین کړې دی.

اِصْبِرْ	عَلَىٰ مَا	يَقُولُونَ	
صبر کوه (اے نبی)	په هغه خبرو باندې	چې وانی ئې دوئ	
ته ددوئ په دې خبرو صبر کوه			
وَاذْكُرْ	عَبْدَنَا	دَاوُودَ	ذَا الْأَيْدِ ۖ	إِنَّهُ	أَوَّابٌ ﴿۱۷﴾
اوبیان کړه	قیصه دبنده زمونږه	داوُد	چې مالك ووُ	دلویو قوتونو	ابیشکه هغه
اوزمونږ بنده داوُد یاد کړه	چې ډیرد طاقت خاوند وو	او الله ﷻ طرف ته زیات رجوع کونکې وو			

[1] الطبری: ۱۶۵/۲۱.

Scanned with Ca

إِنَّا سَخَّرْنَا	الْجِبَالَ	مَعَهُ	يُسَبِّحْنَ	بِالْعَشِيِّ
بیشکه تابع کړی ووٗ مونږه | غرونه | دهغه سره |چی تسبیح به ئې وئیله |په آخر دورځې(بیګاه) کښی				
مونږ غرونه تابع کړی وو| چې سحر مابنام به ئې دهغه سره تسبیح وئیل				

وَالْإِشْرَاقِ ﴿١٨﴾	وَالطَّيْرَ	مَحْشُورَةً ۖ	كُلٌّ	لَّهُ	أَوَّابٌ ﴿١٩﴾
او په اول دورځې (صبا) کښی | او مارغان | جمع کړې شوی | او ټول به | هغه ته | رجوع کونکی ووٗ					
.....اومارغان به هم دٔ سره جمع کیدل| او تسبیح به ئې وئیل| دا ټول دده دفرمان تابع وو					

وَشَدَدْنَا	مُلْكَهُ	وَآتَيْنَاهُ	الْحِكْمَةَ
او مضبوط کړې ووٗ مونږه | حکومت دهغه | او ورکړې ووٗ مونږ هغه ته | حکمت |			
اومونږ ددٔ حکومت ډیر مضبوط کړې وو| او مونږ دٔ ته نبوت او د خبرو پوهه ورکړې وه			

وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿٢٠﴾
او پوهه دخبرو

قوله تعالی:: وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ

حضرت داوٗد علیه السلام باندې الله تعالی احسانونه او اید تفسیر: (ذالاید) نه مراد علمی اوعمل والاقوت دې اوصرف دقوت معنی ئې هم وی.څنګه چه فرمائیلی دی.﴿ وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ﴾ مجاهد رحمه الله فرمائی د قوت نه مراد طاقت فی الاطاعة دی (۱)..حضرت قتاده فرمائی چې حضرت داوٗد علیه السلام ته دعبادت قوت اوداسلام فقه ورکړې شوې وه (۲).داهم روایت شوی دی چه داوٗد علیه السلام به شپې دریمې حصې پورې تهجدوکښی ولاړوو،اویوه ورځ پس به ئې روژه نیوله.دبخاری اومسلم په حدیث کښی دی چه دالله تعالی دټولونه دحضرت داوٗد علیه السلام دشپې عبادت اوورځې روژې خوښې وې.داوٗد علیه السلام به نیمه شپه اوده اودریمه حصه به ئې عبادت کولواوشپې شپږمه حصه کښی به پیااوده شو.اویوه ورځ به ئې روژه وه اوبله نه.اوددین دښمنانوسره به ئې جهاد کښی تیخته نه کوله.(۳)اوپه خپل هرحالت کښی دالله تعالی طرف ته رجوع کوله.هغوی غرونه هم سرکړی وو.داوٗد علیه السلام به دنمرراختووخت کښی دورځې په اخری وخت کښی دالله تعالی تسبیح بیانوله.څنګه چه فرمائیلی دی.﴿ یاجبال اوبی معه﴾ یعنی الله تعالی غرونو ته دهغه سره رجوع کولوحکم کړې وو.دغه شان به مرغودهغه اوازاوریدوسره دهغه سره سره به ئې الله تعالی پاکی بیانوله.که الوتونکې مرغې دهغه سره تیریدې اوهغه به تورات وئیلونوهغوی به هم الوتل پریخودل اوداوٗد علیه السلام سره به په تلاوت کښی مشغول شوې.

د اشراق او څاښتی مونځ فضیلت:: حضور صلی الله علیه وسلم دمکې فتح کولوپه ورځ دغټ اخترپه ورځ یعنی داشراق په وخت کښی حضرت ام هانی رضی الله عنها په کورکښی اته رکعته مونځ اوکړو.ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دغه هم مونځ وخت دې.څنګه چه فرمائیلی دی.﴿ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ﴾

عبدالله بن حارث بن نوفل وائی چه عبدالله بن عباس رضی الله عنه به دضحی مونځ نه کولو.یوه ورځ ماهغه دام هانی رضی الله عنها کورته بوتلواوورته مې اووئیل چه ده ته هغه حدیث بیان کړه کوم چه تاسوماته بیان کړې

---

۱) الطبری :۱۶۶/۲۱.

۲) الطبری :۱۶۷/۲۱.

۳) صحیح بخاری کتاب التهجد باب من نام عند لسحر: ۱۱۳۱. صحیح مسلم: ۱۱۵۹.

Scanned with Ca

وو،نومورصاحبې اوفرمائيل. دمکې په ورځ باندې حضورﷺ زماکورته تشريف راوړو ، او د راتلونه پس نې راباندې يولوخی کښی اوبه واچولې،اودکپړې يوه پرده ئې جوړه کړه اواوئې لامبل،دهغې نه پس دګوريوطرف ته ئې اوبه واړولې اواته رکعته صلوة الضحی ئې اداکړل.په دې کښی قيام، رکوع، سجده،جلوس ټول تقريبابرابروو،حضرت ابن عباسؓ داحديث اوريدلوسره چه کله هغه خائې نه رااوتلو،نواوئې فرمائيل.ټول قران مااولوستلوخوماته پته نه وه چه دضحی مونځ هم څه څيزدې؟نن راته معلومه شوه چه ﴿يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ﴾ ايت کښی داشراق نه مرادهم داضحی وو.نودهغې نه پس هغه دخپل مخکښی قول ته رجوع اوکړه (۱).اومرغې به هم په هواکښی اودريدې اوحضرت داؤدﷺ سره به ئې دهغه په تسبيح کښی ملګرتياکوله.

قوله تعالی:: وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ

دباطنی قوت سره ظاهری قوت هم ، يوه عجيبه واقعه::اودهغه سلطنت مونږمضبوط کړې وو. بادشاهانو ته چه دکوم کوم څيزضرورت وی هغه ټول ورته مونږورکړې وو،څلورزره خودهغه محافظان وو. څلويښت زره کسان به هروخت دهغه په حفاظت کښی داسلحې سره ولاړوو.په يوروايت کښی دی چه دهغه په زمانه کښی ددووبنی اسرائيلوپه مينځ کښی جهګړه اوشوه،يووئيل چه ده زماغواه پته کړې ده.دويم ددې جرم نه انکارکولو.حضرت داؤدﷺ ددعوه کونکی نه ګواه اوغوښتله خوهغه ګواه نه رانه وستلې شوه.داؤدﷺ دشپې په خوب کښی اوليدل چه دعوه کونکې قتل کړه.سحرداؤدﷺ حکم اوکړو چه دعوه کونکې قتل کړئ،هغه اووئيل چه اې دالله نبی!ته هم زمادقتل کولوحکم کوې.حالانکه ده زماغوه پته کړې ده.داؤدﷺ اوفرمائيل چه دازمانه بلکه دالله تعالی حکم دې،اودامکن نه ده چه اونه منلې شی،نوته تيارشه.بياهغه اووئيل چه اې دالله نبی!زه په خپله دعوه کښی رښتونې يم چه زماغواه پته شوې ده خوالله تعالی زمادقتل کولوحکم په دې وجه باندې نه دې کړې بلکه زمادقتل وجه بل څه ده اودهغې صرف ماته پته ده.خبره داده چه بيګاه مادغه کس دهوکې سره قتل کړې دې چه دهغې پته چاته نشته.نودهغې په بدله کښی الله تعالی تاسوته دقصاص حکم کړې دې.نوهغه قتل کړې شو.اوس دحضرت داؤدﷺ ويره دهرکس په زړه کښی کيناستله.مونږهغه ته حکمت ورکړې وو.عقل اوذهن، انصاف اوفراست،دالله کتاب اودنبيانواتباع نبوت اورسالت اوجهګړوحل کول،يعنی ګواه اخستل،قسم ورکول ،ددعوه کونکی په ذمه باندې ثبوت پيداکول،دعوه شوی کس ته قسم ورکول.(۲)هم دغه طريقه دنبيانواودنيك خلقودفيصلې کولو،اودغه طريقه په دې امت کښی هم ده.نوحضرت داؤدﷺ به دخبرې تل ته رسيدواودحق اوباطل،رښتياودروغواودصحيح اوغلط پته به ئې اولږوله.کلام به هم دهغه صفا وواوحکم به ئې هم دانصاف مطابق وو.حضرت داؤدﷺ **دامابعد** وئيل ايجادکړی وو.اودفصل الخطاب نه هم دې طرف ته اشاره ده.

وَهَلْ أَتَاكَ	نَبَؤُا الْخَصْمِ	إِذْ
او آيا راغلې دې تاته	خبر دجګړه کونکو	کله چې
اوائې پيغمبره)آيا تا ته دهغه جګړه کونکې واقعه معلومه ده	هرکله چې	

(۱) الطبری :۱۶۹/۲۱. حاکم:۵۳/۴.

(۲) الطبری :۱۷۲/۲۱.

تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَىٰ دَاوُودَ

وراوختل هغوئ په دیوال | بالاخانې ته | کله چې ورننوتل هغوئ | په داود باندې |
هغوئ په دیوال راواوړیدل | او عبادت خانې ته داخل شول | څه وخت چې داؤد ته ورغلل

فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ خَصْمَانِ بَغَىٰ

نو اویریدو | دهغوئ نه | نواووئیل هغوئ | مۀ یریږه تۀ | دوه جګړه کونکی یو | زیاتې کړې دې |
نودې دهغوی نه اوویریدو | هغوئ ورته اووئیل چې مه ویریږه | مونږ دوه فریقه یو | په

بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ

یو زمونږه | په بل باندې | پس فیصله اوکړه | په منځ زمونږ کښی | په حقه سره |
معامله کښې اختلاف راغلې دې | نوزمونږ په مینځ کښې د انصاف فیصله اوکړه

وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَا إِلَىٰ سَوَاءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾ إِنَّ هَٰذَا

اومۀ کوه بې انصافی | اولارښودنه اوکړه زمونږه | نیغې لارې ته | بیشکه دا
او بې انصافی مه کوه | اومونږ ته سمه لاره اوښایه | .....دا سړې زما رور دې

أَخِي لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ

رور زما دې | دۀ لره | نهه | او نوی | ګډې دی | او زما | ګډه یوه ده |
دۀ سره یو کم سل ګډې دی | .....اوماسره صرف یوه ګډه ده |

فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾ قَالَ

پس دۀ اووئیل (ماته) اراکړه ماته دغه (یوه هم) | او غالب شو په ما | په خبرو کښی | اووئیل داود
نودې ماته وائی | چې دغه یوه هم ماته راکړه | او په خبرو کښې را باندې ډیر غالب دې | داؤد

لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِ ۖ وَإِنَّ كَثِيرًا

بیشکه ظلم اوکړو دۀ په تا | په غوښتلو سره | دګډې ستا | ګډو خپلو ته | او بیشکه | ډیر |
ورته اووئیل | چې ستا ګډه په خپله ګډو کښې یو ځائې کول غواړی | نو داواقعی په تا زیاتې

مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ

دشریکانونه | خامخا زیاتې کوی | ځینی دهغوئ | په ځینو باندې | ماسوا دهغه کسانونه |
کوی | او (همدغسې) زیات شریکان په یو بل باندې زیاتې کوی | .....خو کومو خلقوچې

آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ ۗ

چې هغوئ ایمان راوړو | او عملونه ئې اوکړل | نیک | او لږ دی دوئ (یعنی دغسې خلق) |
ایمان راوړی | او نیک عملونه کوی (هغوئ زیاتې نه کوی) | اوداسې خلق ډیر لږ دی

وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ
او پوهه شو داود	چې بيشکه	دا خو په آزمينښت کښې واچوو مونږ هغه	پس هغه ښښانه اوغوښتله
او داؤد ﷺ دا خيال اوکړو	چې مونږ د هغه امتحان اخستې دې	نو خپل رب ته ئې توبه
رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ۝ فَغَفَرْنَا لَهٗ
درب خپل نه	او پريوتو	رکوع کونکې	او رجوع نې اوکړه	پس معاف کړو مونږ	هغه ته
اوويستله	او په سجده پريوتلو	اوالله ﷻ ته يې رجوع اوکړه	نو مونږ ددغې خبرې معافي اوکړه
ذٰلِكَ ؕ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ۝
هغه (قصور)	او بيشکه	هغه لره دې	زمونږ سره	خامخا نزدې مقام	او ښه ځائې دورتلو
او د هغه دپاره زمونږ په نيز اوچت مقام دې	.....اوانجام ئې ډير ښه دې

قوله تعالى:: وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ

د حضرت داؤد ﷺ مشهوره فيصله اودې کښې اسرائيلي خبرې: مفسرينودلته يوه قصه بيان کړې ده خو ددې زياته حصه دبنې اسرائيلودروايتونونه اخستلې شوې ده.دحديث نه ثابت نه ده.ابن ابی حاتم کښې يو حديث دې خوهغه هم ثابت نه دې ځکه چه دهغې روايت کونکې يويزيدرقاشی دې.اگرچه هغه ډير نيک کس ووخوضعيف دې.نوښه داده چه په قران کښې څه دی اوپه څه باندې مشتمل دې هغه حق دی.

د حضرت داؤد ﷺ هغه ليدوسره ويريدل په دې وجه باندې ووچه هغه دخپل يواځې والی په خاص کمره کښې وو،اوپهره دارئې منع کړی ووچه نن څوک دننه رانشی،يوناساپه ئې چه دوی دواړه اوليدل نو ويريدو.

(عزني) نه مطلب په خبروکښې غالب راتلل دی،په بل باندې حاوی کيدل حضرت داؤد ﷺ پوه شوچه دالله تعالى ازمينښت دې،نوهغه په رکوع اوسجده کښې الله تعالى نه ښکته شو.ذکرشوی دی چه څلويښت ورځې هغه دسجدې نه سرنه وواوچت کړې.نومونږهغه اوبخلو.داخبره يادساتل پکاردی چه کوم کارونه دعوامودپاره دنيکووی هغه کارونه دخاص خلقودپاره کله ناکله دبدوجوړشی.دااايت د سجدې دې اوکه نه دې؟

ددې باره کښې دامام شافعی رحمه الله مذهب خوداوائی چه دلته سجده ضروری نه ده. دا خو د شکر سجده ده.دابن عباس ﷺ قول دې چه (ص) سجده په ضروری سجدوکښې نه ده.اومارسول الله ﷺ دلته په سجده کولو باندې ليدلې دې[1].(بخاری وغيره)

نسائی کښې دی چه حضور ﷺ سجده کولونه پس اوفرمائيل چه داسجده دداؤد ﷺ دتوبې سجده وه اوزمونږدپاره دشکرسجده ده[2].ترمذی کښې دی چه يوکس اووئيل يارسول الله ﷺ ماخوب کښې اوليدل چه ديوې ونې شاته مونځ کوم،اوپه مونځ کښې مادسجدې دايت تلاوت اوکړواوسجده مې اوکړه نوزماسره هغه ونې هم سجده اوکړه اوماواوريدل چه هغه دادعاغواړی.(اللهم اكتب لي بها عندك اجرا واجعلها لي عندك ذخرا وضع بها عني وزرا واقبلها منى كما قبلتها من عبدك داود) يعنی اې الله! زما سجده دخان سره زمادپاره داجراوخزانې سبب جوړه کړه اوپه دې باندې زمابوجه کم کړه،اودازمانه قبوله کړه.څنګه چه تادخپل بنده داؤد ﷺ نه دې قبوله کړې وه.ابن عباس ﷺ فرمائی بياماوليدل چه حضور ﷺ په ولاړه باندې مونځ

---

[1] صحيح بخاری كتاب سجود القرآن باب سجدة صاد: ١٠٦٩. ابن حبان : ٢٧٦٦.

[2] نسائی كتاب الافتتاح باب سجود القرآن السجود: ١١ فی صاد: ٩٥٨. وسنده صحيح.

Scanned with Ca

اوکړواودسجدې ایت نه پس ئې سجده اوکړه اوپه دې سجده کښې ئې هم هغه دعااوکړه کومه دعاچه هغه کس دونې نه نقل کړې وه.(۱)ابن عباسؓ په دې ایت باندې دسجدې دادلیل ورکوی چه قران حکیم وئیلی دی،دهغه په اولادکښې داؤدؑ اوسلیمانؑ دی چه هغوی ته مونږ هدایت اوکړو.نوته اې نبی!دهغوی هدایت اومنه.نوحضورﷺ دهغوی په اقتداباندې مامور وو، او دا ښکاره ثابت ده چه حضرت داؤدؑ سجده کړې وه اوحضورﷺ هم داسجده کړې ده.(۲)

دحضرت ابوسعیدخدریؓ بیان دې چه ماپه خوب کښې اولیدل چه لکه سوره (ص)لیکم.چه کله دسجدې ایت ته اورسیدم نومااولیدل چه قلم اودوات اوزماسره خوا کښې هریوځیزسجده اوکړه.هغوی داخپل خوب حضورﷺ ته بیان کړو.دهغې نه پس به حضورﷺ ددې ایت دتلاوت په وخت کښې سجده کوله (۳).(احمد)

ابوداؤدکښې دی چه حضورﷺ په منبرباندې سوره ص اولوستلو،اودسجدې ایت ته رسیدلوسره دمنبرنه کوزشواوسجده نې اوکړه،اودحضورﷺ سره نوروخلقوهم سجده اوکړه.یوبل ځل حضورﷺ هم ددې سورت تلاوت اوکړو،چه کله دسجدې ایت ته اورسیدونوخلقودسجدې تیاری اوکړه، حضورﷺ اوفرمانیل چه داخودیونبی دتوبې سجده وه.اوزه وینم چه تاسودسجدې دپاره تیارشوې ئې.نوحضورﷺ راکوز شو او سجده نې اوکړه.(۴)

قوله تعالی:: وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا

قیامت کښې د داؤد ؑ مرتبهٔ:: الله تعالی فرمائی مونږهغه اوبخلو.دقیامت په ورځ به دهغه ډیر قدر او لوړ مقام وی اوهغه به دنبیانواوعادلانودرجه مونده کړی.حدیث کښې دی چه عادل خلق به دنورپه منبر باندې رحمن سره ښی طرف ته وی.دالله تعالی دواړه لاسونه ښی دی.داعادل خلق هغوی دی چه دچاخپل خپلوان چه دهغوی دوی مالکان وی عدل اوانصاف کوی،(۵)اوپه حدیث کښې دی چه دټولونه زیات دالله تعالی دوستان اودهغه سره نزدې به هغه بادشاهان وی کوم چه انصاف کونکی وی اودټولونه سخت دښمن اوعذاب به ئې په هغه وی څوک چه ظالم حکمران وی.(ترمذی وغیره)

حضرت مالك بن دینارؒ فرمائی چه دقیامت په ورځ باندې به حضرت داؤدؑ دعرش خپې سره اودرولې شی اوالله تعالی به حکم اوکړی اې داؤداچه په کوم خوږدردناك،خائسته اوازسره به تا زما تعریفونه په دنیاکښې کول،اوس هم اوکړه.داؤدؑ به اوفرمائی اې الله تعالی!اوس هغه اوازکوم دی؟ الله تعالی به اوفرمائی ماتاته هغه اوازدرکړو.اوس به داؤدؑ په خپل خائسته اوازسره دوجدپه حالت کښې دالله تعالی حمداوثناء بیان کړی.چه هغه اوریدوسره به جنتیان نورنعمتونه هیرکړی اوداخائسته اوازاونورانی مرئ به دهغوی توجه دنورونعمتونونه لرې کړی اوخپل ځان طرف ته به ئې متوجه کړی.

يَٰدَاوُۥدُ	إِنَّا جَعَلْنَٰكَ	خَلِيفَةً	فِى ٱلْأَرْضِ	فَٱحْكُم	بَيْنَ ٱلنَّاسِ
اے داود	بیشکه جوړ کړې مونږ تا	خلیفه	په زمکه کښې	پس حکومت کوه	په منځ دخلقو کښې
ائې داوده	مونږ ته په زمکه کښې حاکم جوړکړې یئ		نود خلقو	په مینځ کښې	په انصاف سره

---

۱) ترمذی کتاب الدعوات باب مایقول فی سجود القرآن : ۳٤۲٤. وسنده حسن.

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة صاد: ٤۸۰۷.

۳) احمد:۳/۷۸..

٤) ابوداود کتاب سجود القرآن باب السجود فی صاد: ۱٤۱۰. وهوحسن .

۵) ترمذی کتاب الاحکام باب ماجاء فی الامام العادل : ۱۳۲۹.

Scanned with Ca

بِالْحَقِّ	وَلَا تَتَّبِعِ	الْهَوٰى	فَيُضِلَّكَ	عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ
په حقه سره | اومه کوه پیروی | دخواهشاتو | پس بې لارې به کړی تا |				دلارې دالله نه |
فیصلې کوه | اودخپلوخواهشاتو تابعداری مکوه | کنی دالله ﷻ دلارې نه به دې بې لارې کړی				
اِنَّ الَّذِيْنَ	يَضِلُّوْنَ	عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	لَهُمْ	عَذَابٌ شَدِيْدٌ
بیشکه هغه کسان | چې بې لارې کیږی |	دلارې دالله نه |	دپاره دهغوئ |		عذاب سخت دې |
څوک چې دالله ﷻ دلارې نه بې لارې شی | نو هغه دپاره سخت عذاب مقرر دې				
بِمَا	نَسُوْا	يَوْمَ الْحِسَابِ ۝		
په سبب دهغې | چې هیره کړه هغوي | ورځ		دحساب		
څکه چې د حساب ورځ ئې هیره کړې ده |				

قوله تعالی:: فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ

بادشاهان دالله تعالی دحکم پابنددی: دې ایت کښې بادشاهانواواختیارمندوخلقوته حکم شوې دې چه هغوی دې دعدل اوانصاف سره دحدیث اوقران مطابق فیصلې کوی کنی هغوی به دالله تعالی دلارې نه ورک شی.اوچه څوک ورک شی اودحساب ورځ تری هیره شی هغه به په سخت عذابونوکښې اخته کړې شی.دحضرت ابوزرعه رحمه الله نه دوخت بادشاه ولیدبن عبدالملك یوځل تپوس اوکړوچه دوخت خلیفه نه به هم الله تعالی حساب اخلی؟هغه ورته اوفرمائیل رښتیاووایم اخلیفه ورته اووئیل بالکل رښتیاووایه،اوتاسوته هرقسمه امن دی.اوئې فرمائیل ای امیرالمومنین الله تعالی ته دټولونه نزدې درجه دحضرت داؤد علیه السلام وه اوهغه ته دخلافت سره سره الله تعالی نبوت ورکړې وو،ددې نه پس هم دالله تعالی کتاب هغه ته وائی ﴿ يٰدَاوٗدُ اِنَّا ﴾ عکرمه رحمه الله فرمائی مطلب دادې چه دهغه دپاره دهغه د هیریدو په وجه باندې دحساب په ورځ سخت عذاب دې.(۱) سدی رحمه الله وائی چه دهغه دپاره دحساب په ورځ سخت عذاب په دې وجه باندې دې چه هغه دحساب دورځ دپاره عملونه نه دی جمع کړې.(۲)دایت دالفاظونه داقول ډیر صحیح ښکاری. والله اعلم.

وَمَا خَلَقْنَا	السَّمَآءَ			
| اونۀ دی پیدا کړی مونږه | اسمان				
| اومونږ اسمان اوزمکه اوددې دواړو په				
وَالْاَرْضَ	وَمَا بَيْنَهُمَا	بَاطِلًا ؕ	ذٰلِكَ ظَنُّ	الَّذِيْنَ
او زمکه | او هغه چې په منځ ددې دواړو کښې دی | عبث (فضول) | دا ګمان دې | دهغه کسانو |				
مینځ کښې چې څه دی بې مقصده نه دی پیدا کړی | .....دا خو د کافرانو خلقو ګمان دی				
كَفَرُوْا ۚ	فَوَيْلٌ	لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنَ النَّارِ ۝
چې کفر ئې کړې دې | پس تباهی ده | دپاره دهغه کسانو | چې کفر ئې اوکړو				| داور نه |
..... | ..... نوکافرانو دپاره لوئې هلاکت دې | چې ددوزخ اور دې				

(۱) الطبری :۱۸۹/۲۱.
(۲) الطبری :۱۸۹/۲۱.

Scanned with Ca

اَمْ نَجْعَلُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	كَالْمُفْسِدِيْنَ
یا اوګرځوؤ مونږه	هغه کسان	چې ایمان راوړی	او عمل اوکړی نیك	پشان دفساد کونکو
آیا مونږ به د ایمان خاوندان او نیک عمله خلق د هغه چاسره برابر ګرځوو				چې په زمکه کښې
فِي الْاَرْضِ	اَمْ نَجْعَلُ	الْمُتَّقِيْنَ	كَالْفُجَّارِ ﴿۲۸﴾	كِتٰبٌ
په زمکه کښې	یا اوګوځوؤ مونږه	پرهیزګاران خلق	پشان دفاجرانو (بدکارانو)	کتاب
فسادونه خوروی	آیا مونږ به پرهیزګاران دبدکارونو پشان کوو			دا (قرآن یو) برکتی
اَنْزَلْنٰهُ	اِلَيْكَ	مُبٰرَكٌ	لِّيَدَّبَّرُوْٓا	اٰيٰتِهٖ
چې نازل کړې دې مونږ هغه	تاته	برکتناك دې	دپاره ددې چې غور اوکړی خلق	په آیتونو ددې
برکتی کتاب دې	چې مونږ تاته د دې دپاره نازل کړې دې		چې دوئ ددې په آیتونو کښې فکر اوکړی	
وَلِيَتَذَكَّرَ	اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۲۹﴾			
او دپاره ددې چې نصیحت قبول کړی	خاوندان دعقل			
اوعقل مند تري نصیحت قبول کړی				

قوله تعالی:: وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ

الله تعالی یوځیزهم بې کاره نه دی جوړ کړی دی: ددې چه دانسان پیداکول عبث اوبې کاره نه دی،دوی ټول د الله تعالی دعبادت دپاره پیداکړې شوی دی. بیایو وخت راتلونکې چه منونکوته به اوچت والې ورکړې شی اونه منلووالاته به سخت سزاورکړې شی. دکافرانو خیال دې چه مونږدوی هم دغه شان پیداکړی دی اوداخرت اوبل ژوندځه ځیزنه دې.دوی غلط دی.دې کافرانوته به دقیامت په ورځ ډیرسختې وی.ځکه چه په هغه اورکښې به دوی سوزی کوم چه ددوی الله په فرښتوباندې بل کړې دې. داناممکن اونه کیدووالاخبره ده چه مومن اومفسداوپرهیزګاراوبدکاریوشان کړی.اوکه قیامت نه راځی نوبیا دوی دواړه دانجام په لحاظ باندې یوشان دی.اود انصاف خلاف ده.قیامت به ضرورراځی،نیك خلق به جنت کښې داخل شی اوګناهګاران به دوزخ ته لاړشی.نوعقل هم داخرت ثبوت غواړی .مونږ وینو چه یوظالم ګناهګاردالله تعالی ددرنه شړلې شوې په دنیاکښې خوشحاله،مال اولاداوصحت هرڅه دهغه سره شته او یومومن متقی پاکدامن دیوپیسې دپاره تنګ اویویوارام نه لرې دې.نودحکمت اوعلم اوانصاف والابادشاه نه هم دغه طمع پکارده چه یووخت داسې هم راشی چه ددغه نمك حرام نه دغه ټول مال اودولت واخستلې شی اودې مومن اوصبرکونکی کس ته ئې ورکړی،اوهم دغه د اخرت په دار کښې کیږ ی.نوثابته شوه چه ددې جهان نه پس به یوبل جهان ضرورراځی. ځکه چه داتعلیم دقران پاك نه حاصل شوې دې اوددې نیکئ خودلووالاهغه دې،په دې وجه دهغې نه پس ارشادشوې دې چه دا مبارك کتاب مونږستاسوطرف ته نازل کړې دې چه خلق دااوپیژنی اودعقل والاخلق ددې نه نصیحت حاصل کړی.حضرت حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه چادقران لفظونه حفظ کړل اوپه قران باندې ئې عمل اونه کړو.هغه په قران کښې سوچ اوفکرهم اونه کړ.خلق وائی چه مونږټول قران اووئیلو.خودقران یونصیحت یادقران دحکم یوه نمونه هم په هغه کښې نه ښکاری.داسې نه دی پکار.اصل ځیزسوچ اوفکر او نصیحت اوعبرت حاصلول دی.

Scanned with Ca

					وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ
					اوورکړه مونږه | داود ته |
					او مونږ داؤد ﷺ ته (د هغه ځوئ)
سُلَيْمٰنَ ؕ	نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ	اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ؕ۝	اِذْ	عُرِضَ	عَلَيْهِ
سلیمان | ښه بنده | بیشکه هغه رجوع کونکی دی | کله چې | پیش کړې شو | هغه ته |					
سلیمان ﷺ ورکړې وو | ډیر ښه بنده وو | او (الله ﷻ) ته ډیر رجوع کونکی وو | هغه وخت یاد کړه چې					
بِالْعَشِيِّ	الصّٰفِنٰتُ	الْجِيَادُ ۙ۝	فَقَالَ	اِنِّيْۤ اَحْبَبْتُ	
په اخر ورځ (مانښام) کښې | په دري خپو ولاړ (اصل) | اسونه | نو هغه اووئیل | بیشکه خوښ کړو ما					
په مانښام کښې هغه ته اصیل ښه اسونه پیش کړې شول | نو هغه اووئیل چې زه دمال په محبت کښې					
حُبَّ الْخَيْرِ	عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ	حَتّٰى	تَوَارَتْ	بِالْحِجَابِ۝	
محبت دمال (اسونو) | په وجه دیادولو درب زما | تر دې پورې | چې پټ شو (اسونه) | په پردو کښې					
دخپل رب دیادولونه غافله پاتې شوم | تر دې چې نمر (دمغرب) په پرده کښې پټ شو					
رُدُّوْهَا	عَلَيَّ ؕ	فَطَفِقَ	مَسْحًا	بِالسُّوْقِ	
واپس راولئ دغه اسونه | ماته | پس شروع اوکړه هغه | په وهلو دلاسونو | په پندو (باندې) |					
دا (اسونه) خو لږ راواپس کړئی | او هغه د هغوئ په پندو او څټونو وهلو شروع اوکړه					
وَالْاَعْنَاقِ۝					
او په څټونو (باندې) |					

قوله تعالیٰ:: وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ؕ

دحضرت سلیمان ﷺ واقعه: الله تعالی یوډیرلوی نعمت حضرت داؤد ﷺ ته ورکړې وو، دهغه ذکرکیږی چه دهغه دنبوت وارث مودهغه ځوی حضرت سلیمان ﷺ کړو.په دې وجه باندې صرف دحضرت سلیمان ﷺ ذکرشوې دې کنی دهغه نور اولادهم وو.سل ښځې دهغه وینزې وې.نوپه بل ایت کښې دی.

﴿ وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ ﴾ د(حضرت) داؤد وارث (حضرت) سلیمان شو،یعنی دهغه نه پس نبوت ده ته ملاوتشو.دې هم ډیرښه بنده وو.یعنی پخپله عبادت کونکې اوالله طرف ته ښکته کیدو والا وو.

داؤد ﷺ نه سوالات اودهغوئ ﷺ جوابات: مکحول رحمه الله وائی چه جناب داؤد ﷺ نبی یوځل دده نه یو څو سوالونه اوکړل اودهغې صحیح جوابونه ملاویدونه پس نې اوفرمائیل چه دې دالله تعالی نبی دې. تپوس نې اوکړوچه دټولونه خانسته څیزځه دې؟جواب نې ورکړوچه دالله تعالی دطرف نه سکون او ایمان.بیائې تړې تپوس اوکړوچه دټولونه خراب څیزځه دې؟سلیمان ﷺ عرض اوکړوچه دایمان نه پس کفر.بیائې تپوس اوکړوچه دټولونه خوږ څیزځه دې؟عرض نې اوکړود الله تعالی رحمت.بیائې تړې تپوس اوکړودټولونه زیات یخ والی والاځیزځه دې؟جواب نې ورکړود الله تعالی دخلقومعاف کول.اودخلقویوبل معاف کول.(ابن ابی حاتم)حضرت سلیمان ﷺ ته دهغه دبادشاهئ په زمانه کښې اسونه پیش کړې شول چه هغه ډیرزیات تیزرفتاره وو ، او په دري خپوبه ولاړوواویوه خپه به نې هسې

Scanned with Ca

په زمکه باندې لږولې وه.(۱)یوداهم ده چه دا دوزروالا اسونه وواوتعدادئې شل وو.ابراهیم تیمی داسونوتعدادشل زره خودلې دې.والله اعلم.

ابوداؤدکښی دی چه حضورﷺ دتبوك یادخیبردسفرنه واپس راغلواوپه کورکښی وو،دتیزې هواپه وجه باندې دکوردپردې یوه حصه اوخوزیده.هلته دحضرت عائشه دلوبوګوډۍ پرتې وې.حضورﷺ هم اولیدلې ،تپوس ئې اوکړوداځه دی؟حضرت عائشهؓ جواب ورکړوچه دازماګوډیانې دی.حضورﷺ اولیدل چه په مینځ کښی یواس شان جوړشوې دې،چه دهغې دکپړې نه جوړې شوې دوه وزرې هم دی. تپوس ئې اوکړوداځه دی؟اوئې فرمائیل اس دې.اوئې فرمائیل اوددې دکپړې نه ځه جوړکړې دی؟اوئې فرمائیل دادډې وزرې دی،اوئې فرمائیل اس هم خائسته دی اوددې وزرې هم.صدیقهؓ عرض اوکړوچه تاسونه دی اوریدلې چه دحضرت سلیمانؑ دوزروالااسونه وو؟دې اوریدوسره حضورﷺ په خنداشوتردې چه دحضورﷺ اخری غاښونه هم ښکاره شول.(۲)

قوله تعالی:: حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ۝

د سلیمان ؑ او د نبی کریم ﷺ د مازیګر مونځ قضا کیدل:: حضرت سلیمانؑ هغې په کتلوباندې داسې مشغول شوچه دهغه دمازیګرمونځ پاتې شو.بالکل هم دغه شان څنګه چه دخندق په غزوه کښی یو خل حضورﷺ په جنګ کښی داسې مشغول ووچه دمازیګرمونځ ئې ادانه کړې شواودمابنام نه پس ئې اداکړو.نوپه بخاری اومسلم کښی دی چه دنمرپریوتونه پس حضرت عمرؓ کافرانوته خیرې کولې او حضورﷺ ته راغلوچه حضوراماخودمازیګرمونځ هم نه دې کړې.حضورﷺ اوفرمائیل ماهم تراوسه پورې نه دې اداکړې.نوهغوی بطحان ته لاړل اوهلته ئې اودس اوکړو اودنمرغورځیدونه پس ئې د مازیګرمونځ اوکړواوبیائې دمابنام مونځ اوکړو(۳).داهم کیدیشی چه دسلیمانؑ په دین کښی د جنګ په وجه باندې مونځ کښی ناوخته کول جائزوی اوداجنګی اسونه ووکوم چه هم دغه مقصددپاره ساتلی شوی وو.

دجنګ په وخت کښې د مونځ حکم:: نوځه عالمانوداهم وئیلی دی چه دصلوة خوف دشروع کیدونه مخکښی هم دغه حالت وو.بعضې وائی چه کله توري راویستلې شوې وی اولشکررامخکښی شوې وی اودمونځ دپاره دسجدې اورکوع امکان نه وی نوبیادغه حکم دې.کوم چه صحابه کرامؓ د تستر دفتح کولوپه وخت کښی کړې وو (۴). خو زمونږ رومبې قول صحیح دې ځکه چه دحضرت سلیمانؑ بیا اسونو غوښتلو بیان هم دې.دهغوی دوژلوحکم ئې اوکړواوئې فرمائیل چه زه دخپل رب دعبادت نه دې ځیزغافل کړې یم،زه داسې ځیزنه شم ساتلې.نودهغوی خپې کټ کړې شوې (۵)،اودهغوی څټونه پرې کړې شول.(۶)خودحضرت ابن عباسؓ بیان دې چه حضورﷺ داسونوپه تندی باندې لاس اووهلو.(۷)

امام ابن جریرؒ هم دغه قول اختیاروی چه په ځناوروباندې ظلم کول نه دی پکار.دهغه ځناوروځه قصورنه ووچه دهغوی سرونه ئې کټ کړې وې.خوزه داوایم چه کیدیشی داخبره دهغوی په شریعت کښی جائزوه.اوخاص طورباندې هغه وخت کښی چه هغوی نه دالله تعالی یاد پاتې شواودمونځ وخت تیرشونوداغصه هم دالله تعالی دپاره وه.نوددغه اسونونه هم تیزاوسپك ځیزالله تعالی خپل نبیﷺ ته

---

۱) الطبری :۱۹۲/۲۱.
۲) ابوداود کتاب الادب باب اللعب بالبنات:۴۹۳۲، وسنده حسن. ابن حبان: ۵۸۶۴.
۳) صحیح بخاری کتاب مواقیت الصلاة باب من صلی بالناس جماعة بعد ذهاب الوقت : ۵۹۶.
۴) صحیح بخاری کتاب الخوف باب الصلاة عند مناهضة الحصون..... قبل حدیث: ۹۴۵.
۵) الطبری :۱۹۵/۲۱.
۶) الطبری :۱۹۵/۲۱.
۷) الطبری :۱۹۶/۲۱.

Scanned with Ca

ورکړو. یعنی هوادهغه تابع شوه حضرت ابوقتاده رضی الله عنه اوحضرت ابودهما رضی الله عنه به اکثرحج کولو. دهغوی بیان دي چه یوځل یوکلی کښی زمونږملاقات یوکلی وال سره اوشونوهغه اوونیل چه رسول الله ﷺ زمالاس اونیولواوماته ئې څه تعلیم راکړو. په هغې کښی داهم اوفرمائیل چه دالله تعالی دویرې نه ته کوم څیزپریدي الله تعالی به تاته دهغې نه ښه څیزدرکړی.(۱)

وَلَقَدْ فَتَنَّا	سُلَيْمٰنَ	وَاَلْقَيْنَا	
او بې شکه په آزمیښت کښی واچوو مونږه	سلیمان	او غورزوله مونږه	
او مونږ سلیمان علیه السلام په یو امتحان کښې واچولو		اودهغه په تخت مو یو	
عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾	قَالَ	رَبِّ	اغْفِرْ لِيْ
په کرسئ دهغه باندي	یوه جوثه	بیا رجوع اوکړه هغه	وې ونیل	اے ربه زما	معافی اوکړه ماته
نیمګړې بدن واچولو	انو بیا هغه (الله ته) رجوع اوکړه	ادۀ دعا اوکړه	اچې اې زماربه! ماته معافی اوکړه		
وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ اِنَّكَ			
او راکړه ماله	داسې بادشاهی	چې نۀ ښائی	هیچا لره	روستو زمانه	بیشکه تۀ
اوداسې بادشاهی راته راکړې	چې زما نه بغیر (په دې زمانه کښې) بل هیچا ته حاصله نشی				
اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾	فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ	تَجْرِيْ	بِاَمْرِهٖ		
هم ته ورکونکې ئې	پس تابع کړه مونږه	هغه لره	هوا	چې چلیده به	په حکم دهغه
بیشکه ته ډیر زیات ورکونکې یې	نو مونږ بادونه د هغه تابع کړل	چې دهغه په حکم به			
رُخَآءً حَيْثُ اَصَابَ ﴿۳۶﴾	وَالشَّيٰطِيْنَ	كُلَّ بَنَّآءٍ	
په نرمئ سره	هر ځائې ته	چې خوښه وه دهغه	او تابع مو کړل شیطانان	هر قسم مانړئ جوړونکی	
دهغه په اختیارکښې الوتل	کم خوا چې به دهغه خوښه وه	اوټول عمارت جوړونکی او غوپه وهونکی پیریان			
وَّغَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾ وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾ هٰذَا عَطَآؤُنَا			
او غوپې وهونکی	او نور	ترلې شوی	په زنځیرونو کښی	دا بخشش زمونږ دې	
مودهغه تابع کړل	اونور پیریان هم چې په زنځیرونو کښې ترلی پراته وو	دا زمونږ ورکړه ده			
فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۹﴾ وَاِنَّ لَهٗ			
پس احسان کوه په ورکړه سره	یا منۀ ورکوه	بې حسابه	او بیشکه	هغه لره دې	
نو ورکړه کوه یا ئې مکوه	.....ستا نه به ددې هیڅ تپوس نه کیږی	اوهغه مونږ ته			
عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾ ع	
زمونږ سره	نزدې مقام	او ښۀ ځائې دورتلو	
ډیر نزدې دې	اوډیر ښه انجام ئې دې		

(۱) احمد:۵/۷۸ وسنده صحیح.

Scanned with Ca

قوله تعالیٰ:: وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ

دحضرت سلیمانؑ ازمیښت اواختیار او اسرائیلی بې بنیاده روایات: مونږد(حضرت)سلیمان امتحان واخستلو اودهغه په کرسي باندې مویوبدن واچولویعنی شیطان.بیاهغه خپل تخت اوتاج طرف ته واپس راغې دهغه شیطان نوم صخروویا اصروویاحقیق وو.داواقعه اکثرمفسرینوبیان کړې ده.چادتفصیل سره اوچاړه.داواقعه داشان بیانوی چه سلیمانؑ ته دبیت المقدس دجوړولوحکم اوشوچه داسې نې جوړ کړه چه داوسپنې اوازترې هم نشی اوریدې کیدلې.سلیمانؑ ډیرکوششونه اوکړل خوکامیاب نه شول .بیاسلیمانؑ واوریدل چه په سمندرکښی یوشیطان دې چه دهغه نوم صخردې هغه ته داسې یوه طریقه معلومه ده.سلیمانؑ حکم اوکړو چه هغه په څه شان راولئ.یوه سیند اوسمندرته غورځیده.په هره اوومه ورځ به هغې کښی دسړپوری اوبه راتلې.اوهغه شیطان به داځکلې.دهغې اوبه نې ویستلې اوهغه نې بالکل خالی کړو. اوبالکل خالی کولونه پس نې دهغه شیطان دراتلوپه ورځ نې هغه دشرابونه ډک کړو.هغه چه کله راغې اوداحالت نې اولیدونووئیل چه دمزې څیزخودې خودعقل دشمن دې،جهالت زیاتولووالاځیزدې.نوهغه ترې لاړو.چه کله ډیرزیات ترې شونودمجبورې دلاسه نې اوځکلې.اوس دهغه عقل ختمیدو او د سلیمانؑ هغه ګوته نې ورته اوخودله یاداوړویه مینځ کښی هغه باندې مهراولړولو.دې بې بسه شو. د حضرت سلیمانؑ حکومت دهغې ګوتې په وجه وو.کله چه هغه حضرت سلیمانؑ ته راغې نوهغه ورته ددغه کارکولوحکم ورکړو،هغه لاړواودملاچرګ هګۍ نې راوړې اودهغې دپاسه نې شیشه کیخوده.ملاچرګ راغې اوخپلې هګۍ نې اولیدلې هغه څلوروطرفونه کوشش اوکړوخوهګۍ په لاس ورنغلې،هغه لاړواوالماس نې راوړه اوپه هغه شیشه باندې نې کینولوهغه شیشه کټ کول شروع کړل.اخرکښی شیشه کټ شوه اوخپلې هګۍ نې یوړلې.هغه الماس نې راواخستلو اوپه هغه باندې کانړی ماتولو اوکارتې شروع کړو.حضرت سلیمانؑ چه به کله بیت الخلاء یاحمام ته تلونوهغه ګوته به نې ویستله.یوه ورځ حمام ته تلواوهغه شیطان ورسره وو،هغه وخت حضرت سلیمانؑ فرضی غسل دپاره تلو.ګوته نې هغه ته حواله کړه اولاړوهغه ګوته سمندرته اوغورځوله اوپه شیطان باندې دحضرت سلیمانؑ شکل واچولې شواودحضرت سلیمانؑ نه تخت .اوتاج واخستلې شو.په ټولوځیزونوباندې شیطان قبضه اوکړه سواددحضرت سلیمانؑ دبیبیانونه اوس په دې سره ډیرې غیرمعروف خبرې هم ښکاره شوې.په هغه زمانه کښی یوسړې ووچه داسې وولکه دحضورﷺ په زمانه حضرت عمر فاروق ؓ.هغه هم اووئیل چه ازمیښت کول پکاردی ماته خوداکس حضرت سلیمانؑ نه ښکاری .نو هغه ترې یوه ورځ تپوس اوکړو،جناب که په یوکس باندې دشپې غسل واوړی اودیخني په وجه باندې هغه دسحرنمرختلوپورې غسل اونه کړی نوڅه ګناه شته؟هغه ورته جواب ورنه کړو.څلویښت ورځو پورې هغه دسلیمانؑ په تخت باندې وو.بیاسلیمانؑ ته دکب دخیتې نه هغه ګوته ملاوشوه.په لاس کښی اچولوسره ټول څیزونه دسلیمانؑ تابع شول.ددې بیان په دې ایت کښی دې.سدیؒ فرمائی چه حضرت سلیمانؑ سل ښځې وې،سلیمانؑ ته په ټولوکښی زیات اعتبارپه هغې کښی جراده نومې بی بی باندې وو.کله چه به غسل ته یابیت الخلاء ته تلونوهغه ګوته به نې هغې ته ورکوله.یوځل حضرت سلیمانؑ بیت الخلاء ته لاړواویوشیطان دسلیمانؑ په شکل کښی نې بی بی ته ورغې اوګوته نې ترې اوغوښتله هغې ورته ورکړه.دهغې اخستلوسره په تخت کیناستو.اوس چه سلیمانؑ راغې اوګوته نې ترې اوغوښتله نوښځې ورته اووئیل چه تاسوخوګوته یوړله.هغوی پوه شوچه دالله تعالی ازمیښت دې ډیرپریشانې کښی دمحل نه اووتلو.هغه شیطان څلویښت ورځې حکومت اوکړو، خود حکمونودبدلولوسره عالمان پوه شول چه داحضرت سلیمانؑ نه دي.نودهغه عالمانویوجماعت د سلیمانؑ ښځوته راغې اوهغوی ته نې اووئیل داڅه معامله ده؟زمونږپه سلیمانؑ باندې شک دې چه واقعی دسلیمانؑ عقل لاړویادې سلیمانؑ نه دې؟کنی

داسې دشریعت خلاف کارونه به هغه نه کول .بښځوچه داواوزیدل نوپه ژړاشوې،اوداخلق دهغه ځائې نه واپس شول اودتخت نه ګیرچاپیره کیناستل اوتورات ئې کهلاوکړواودهغې تلاوت ئې شروع کړو.دخبیث شیطان دالله تعالی دکلام نه اوتختیدو اوګوته ئې سمندرته اوغورځوله،هغه یوکب تیره کړه.حضرت سلیمان علیه السلام هم داسې خپلې ورځې تیرولې.

یوځل بهر ته اووتلو،دیرزیات وږې وو،خلقوکبان نیول،دهغوی خواه ته ورغې اویوکب ئې تري اوغوښتلو اوخپل نوم ئې هم ورته اوخودلو.په هغې باندې یوکس ته ډیرقهرورغلوچه دااوګورئ خیرمارهم ځان ته سلیمان علیه السلام وائی.هغوی سلیمان علیه السلام وهل شروع کړل.سلیمان علیه السلام زخمی شواویوخواه ته کیناستواوخپلې وینې ئې وینځلې.څه کسان پرې خفه شول خیرمارئې هسې اووهلو،ورشئ اوورته دوه کبان ورکړئ وږې دې ځان ته به ئې وراته کړی اوبه ئې خوری.نوهغوی ورته کبان ورکړل.په لوږې په وجه باندې سلیمان علیه السلام خپل زخمونه اووینه پریخودله اوزرزرئې دکب خیټه اوسیرله.دالله تعالی په قدرت باندې دکب دخیټې نه هغه ګوته رااوتله.سلیمان علیه السلام دالله تعالی تعریف اوکړواوهغه ګوته ئې واچوله،هغه وخت مرغې راغلې اوپه سلیمان علیه السلام باندې ئې سورې جوړکړو،اوهغه اوپیژندواودهغه نه ئې معافی اوغوښتله.سلیمان علیه السلام اوفرمائیل داتول دالله تعالی حکمونه وو،دالله تعالی دطرف نه یوامتحان وو.سلیمان علیه السلام تشریف راوړواوپه خپل تخت باندې کیناستواوحکم ئې اوکړوچه دغه شیطان که دهرځائې نه وی ګرفتارئې کړئ،نوهغه قیدکړې شو.سلیمان علیه السلام هغه دوسپنې په یوبکس کښې بندکړواوپه هغې باندې خپل مهراولږولواوسمندرکښې ئې اوغورځولوچه هغه به دقیامت ورځ پورې هلته پروت وی.دهغه نوم حقیق وو.دسلیمان علیه السلام دعاچه ماته دې داسې بادشاهی راکړې شی چه هغه زمانه پس دچاهم دکارنه وی،هم پوره شوه اوهوادحضرت سلیمان علیه السلام تابع کړې شوه.دمجاهد رحمه الله نه روایت دی چه دیوشیطان چه دهغه نوم اصف وویوځل حضرت سلیمان علیه السلام تري تپوس اوکړوچه ته خلق فتنې کښې څنګه اچوئ؟هغه عرض اوکړوچه ماته لږه خپله ګوته اوښائې زه تاسو(علیه السلام)ته اوس ښایم. سلیمان علیه السلام ورته ګوته ورکړه هغه ګوته سمندرته اوغورځوله اوپخپله د تخت اوتاج مالك شو او د سلیمان علیه السلام په شکل اوصورت باندې خلق دالله دلارې نه لرې کول.دایادساتئ چه داتولې خبرې بنی اسرائیلوییان کړی دی.اوپه دې کښې دټولونه زیاته منکره خبره هغه ده کومه چه په ابن ابی حاتم کښې ده اومخکښې بیان کړې شوه.چه په هغې کښې دسلیمان علیه السلام دبی بی جراده رضی الله عنها ذکردې.په دې کښې دا هم دی چه دې پورې حالت رسیدلې ووچه هلکانوبه سلیمان علیه السلام په کانړوباندې ویشتلو.دسلیمان علیه السلام دښځونه چه کله عالمانوتپوس اوکړونوهغوی اووئیل چه اومونږته هم دده په سلیمان علیه السلام کیدوباندې شك دی ځکه چه هغه دحیض په حالت کښې هم مونږته راځی.شیطان ته چه کله معلومه شوه چه دهغه رازښکاره شوې دی،نوهغه جادواوکړواودکفرکتابونه ئې اولیکل اودکرسې لاندې ئې خښ کړل، او بیائې دخلقوپه مخکښې هغه راویستل اوخلقوته ئې اووئیل چه اوګورئ ددې کتابونوپه وجه باندې سلیمان علیه السلام په تاسوباندې حکومت کولو.نوخلقوسلیمان علیه السلام ته کافروئیل شروع کړل.حضرت سلیمان علیه السلام به سمندرپه غاړه باندې مزدوری کوله.یوځل یوکس ډیرکبان اخستلی وو،مزدورته ئې اوازاوکړو ،سلیمان علیه السلام ورغې،هغه ورته اووئیل چه دایوسه،حضرت سلیمان علیه السلام اووئیل مزدوری به څه راکوې؟ هغه ورته اووئیل چه ددې کبانونه به درته یوکب درکړم.سلیمان علیه السلام دکبانوټوکړې په سرکړه اوهغه کره ئې یورله.هغه ورته یوکب ورکړو،سلیمان علیه السلام چه دهغه خیټه اوسیرله نودهغې نه ګوته راووتله. د اچولو سره ټول شیطانان،پیریان اوانسان ئې بیاتابع شول.اوپه صفونوکښې حاضرشول.سلیمان علیه السلام په ملك باندې قبضه اوکړه اوهغه شیطان ته ئې سخته سزاورکړه.نو((ثُمَّ اَنَابَ)) نه مطلب مسلط کړې شوی شیطان واپسی ده.ددې سندونه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه پورې دی.دا سندقوی خودې خوظاهره ده چه دا

Scanned with Ca

سندحضرت ابن عباسؓ داهل کتاب والانه اخستلې دې.داهم هغه وخت چه کله مونږدابن عباسؓ قول صحیح اوګنړو.داهل کتابویوجمات سلیمانؑ نبی نه منی نوداهم کیدیشی چه هغوی دخان نه داقصه جوړه کړې وی.په دې کښی خوهغه څیزونه هم دی کوم چه بالکل منکردی.خاص طورباندې دهغه شیطان دسلیمانؑ بښځوته ورتلل.اوملایانوهم دغه شان قصی بیان کړی دی خوددې خبرې نه ټولوانکارکړې دې چه شیطان به دسلیمانؑ بښځوته ورتلو،اووئیلی دی چه هغه به دسلیمانؑ بښځوته نه شرتلې اودنبی دکوراودهغه دبښځودشرافت هم دغه تقاضاوه.نوروخلقوهم داواقعه ډیره په تفصیل سره بیان کړې ده خودټولواصل هم دغه دې چه دبنی اسرائیلواواهل کتابونه نی اخستلې دی. واللہ اعلم.

شیبانيؑ فرمائی چه سلیمانؑ خپله ګوته په عسقلان کښی موندلې وه اودبیت المقدس پورې تواضعاً پیدل تلې وو.امام ابن ابی حاتم په صفت سلیمانؑ کښی دکعب احبارنه یوعجیبه روایت نقل کړې دې.ابواسحاق مصری وائی چه کله د﴿ اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ﴾ دقصې نه حضرت کعبؒ فارغ شونو حضرت معاویهؓ اووئیل،ابواسحاقاتاسودسلیمانؑ دکرسې ذکراوکړئ،نواوئې فرمائیل چه هغه د هاتهی دغابښ وه.یاقوت،زبرجد اوملغلرو باندې پیللې شوې وو اوځلوروطرفوته دهغې نه د سرو زرو د کهجوروونې جوړې شوې وې.کومې چه بنی طرف ته وې دهغې په سرباندې دسروزروطاوسونه وو،اوبه ګس طرف والاباندې ګنجئ (داهم یوه لویه مرغئی ده) وې،اوهغه هم د سرو زرو وو.ددې کرسې بنی طرف ته دصنوبردوه ونې دسرووې اوګس طرف ته ئې دسرونه زمرې جوړشوې وو.دهغوی په سرونو باندې دزبرجددوه ستې وې.اودکرسې دواړوطرفونو ته دسرودانګورو زیلې وې چه هغې کرسې پته کړې وه دهغې غونچې هم دسروملغلرو وې،بیادکرسې په اعلی درجه باندې دسرودوه زمرې جوړشوی ووچه دهغوی مینځ خالی وواوبه هغې کښی به مشك اوعنبروو.حضرت سلیمانؑ چه به کله کرسې ته راتللونودې زمروبه حرکت کولواودهغوی دحرکت په وجه باندې به دمشك اوعنبربوئی ځلوروطرفوته خور شو.بیابه دسرو منبرونه خواره کړې شول په هغې کښی به یودسلیمانؑ دوزیروواویوبه دهغه وخت دټولونه دلوې عالم وو.بیابه دکرسې مخې ته اویامنبرونه دسرو زروخواره کړې شول چه په هغې باندې به دبنی اسرائیلو قاضیان اودهغوی سرداران کیناستل.دهغوی نه شاته به پنځه دیریش د سرو منبرونه نوروو،چه هغه به خالی وو،حضرت سلیمانؑ به چه کله تشریف راوړونوبه رومبئ پورئ باندې خپه ایخویدوسره به دې ټولوخیزونوخپل طرف بدل کړوشیربه خپله بنئ خپه مخکښی کړه اوګنجئ به خپل ګس لاس مخکښی کړوچه کله به په دویمه پورئ باندې خپه کیخودله نوشیربه خپل ګس لاس خورکړواوګنجئ به بنې.چه کله به سلیمانؑ دریمه پورئ باندې خپه کیخوده اوبه کرسې باندې به کینا.ستونویوې غټې ګنجئ به دسلیمانؑ په سرباندې دهغه تاج کیخودواوبیابه کرسې تیزئ سره واپس شوه.حضرت معاویهؓ تپوس اوکړواخرددې وجه څه وه؟او وې فرمائیل هغه دسرو په یولاټ باندې ووکوم چه صخرنومې جن جوړکړې وو،دهغې تاویدوسره به لاندینی طاوس او ګنجئ ټول به راوچت شول اوسرونه به ئې ښکته کړل،اووزې به ئې خوزولې.چه دهغې سره به دسلیمانؑ په بدن باندې مشك اوعنبرراپریوتل.بیابه دسرویوې کونترې دسلیمانؑ په لاس کښی تورات کیخودوچه دهغې به سلیمانؑ تلاوت اوکړو.خودارواېت بالکل غریب دې.

قوله تعالی:: وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ

ددې صحیح مطلب او ددې متعلق احادیث: دحضرت سلیمانؑ ددعامطلب دادې چه ماته یوداسې ملك راکړې شی چه زمانه هغه څوك نشی اخستلې،څنګه چه دهغه بدن واقعه ده چه هغه په کرسې باندې واچولې شو.داسې نه وه چه سلیمانؑ دنوروخلقودپاره ددې ملك نه ملاویدودعاکوله.خوځه خلقو

چه تري داسي معنى اخستلې ده هغه صحيح نه ده.بلكه صحيح مطلب دادې چه دسليمان﵇ ددعا مطلب داووچه ماته يوداسې ملك اوسلطنت راكړه چه زمانه پس بل كس ته داسې سلطنت ملاوٌنشي.هم دا دايت دالفاظونه معلوميږي .صحيح بخارى كښى دى چه حضورﷺ يوځل اوفرمائيل،چه يوسركش جن هغه بله شپه زماسره زياتې كول غوښتل اوزمامونځ ټې خرابول غوښتل خوالله تعالى په هغه باندې ماته قابوراكړه.اومااوغوښتل چه زه هغه دجمات ستن پورې اوترم چه دسحرتاسوهغه وينئ،خوهغه وخت ماته دخپل رور (سليمان) دعايادشوه.

دحديث روايت كونكې حضرت روح﵁ فرمائى،بياحضورﷺ هغه ذليل اوخواركړو(۱).اوپه روايت كښى دى چه حضورﷺ كله مونځ ته اودريدونومونږواوريدل چه حضورﷺ فرمائى «**اعوذبالله منك**» بياحضورﷺ دري ځله اوفرمائيل **العنك بلعنة الله** بياحضورﷺ هم دغه شان خپل لاس ورمخكښى كړولكه چه څه څيزراخلى.چه كله فارغ شونومونږترې ددې خبرووجه معلومه كړه.حضورﷺ اوفرمائيل دالله تعالى دښمن ابليس اوررواوږواوزماپه خولې كښى اچول غوښتل نومادري ځله اعوذبالله اووئيل.بيامې دري ځله په هغه باندې لعنت اووئيلو،خوهغه بياهم روستونه شو.بيامااوغوښتل چه هغه اونيسم اودمدينې ماشومان په هغه باندې لوبې اوكړى.كه زمونږدرور(سليمان)دعانه وې نومابه هم دغه شان كړې وې.(۲)

حضرت عطاء بن يزيدليثى﵁ مونځ كولوچه ابوعبيددهغوى مخې ته تيريدل اوغوښتل هغوى دخپل لاس په اشاره باندې منع كړو.بيائې اوفرمائيل ماته حضرت ابوسعيدخدرى﵁ داحديث بيان كړې دې چه حضورﷺ دسحرمونځ كولواوزه هم دحضورﷺ روستوولاړووم.قرات په حضورﷺ باندې گډودكړې شونودفارغيدونه پس حضورﷺ اوفرمائيل چه كاش تاسوليدلې وې چه ماابليس نيولې وواوداسې زورسره مې دهغه مرئ نيولې وه چه دهغه دخولې لاړې زمادمينځنې اودشهادت په گوتوباندې راغلې.كه زمادرور(سليمان)دعانه وې نوسحربه هغه دجمات ستن سره تړلې شوې ملاويدواودمدينې ماشومانويه هغه تنگولو.دستاسونه چه تركومې كيدیشى نوددې خبرې خيال ساتئ چه دمونځ په دوران كښى ستاسومخكښى څوك تيرنشى(۳).(مسنداحمد)

په حديث كښى دى چه ربيعه بن يزيدبن عبدالله رملى﵁ فرمائى چه زه حضرت عبدالله بن عمروبن عاص﵁ ته طائف كښى دهغه باغ ته لاړم چه دهغې نوم بط وو.هغه وخت هغه ديوقريشى لاس نيولې ووچه هغه زناكاراوشرابى وو.ماورته اووئيل چه ماته پته لږيدلې ده چه تاسوداحديث بيانوئ چه څوك يوگوټ شراب اوڅكى الله تعالى به دهغه څلويښت ورځې توبه نه قبلوى.اوخراب كس هغه دې څوك چه دمورپه خيټه كښى خراب شوې وى.كوم كس چه صرف دمونځ په نيت باندې بيت المقدس ته لاړشى نوهغه دگناهونونه داسې پاك شى لكه چه هم نن پيداشوې وى.هغه شرابى كس دچانه چه حضرت عبدالله﵁ لاس نيولې ووهغه دشرابوذكراوريدوسره لاس خلاص كړواو تختيدو. بياحضرت عبدالله اوفرمائيل چه چادپاره دا حلال نه دى چه هغه زماباره كښى داسې خبره اوكړى كومه چه مانه وى كړې. ماخودحضورﷺ نه اوريدلى دى چه څوك يوگوټ شراب اوڅكى څلويښت ورځپورې الله تعالى دهغه مونځ نه قبلوى اوكه هغه توبه اوكړى نوالله تعالى دهغه توبه قبلوى.اوكه بياشراب اوڅكى نوبيائې څلويښتوورځپورې مونځ نه قبلوى اوكه بياتوبه اوكړى نوبيائې توبه قبوله كړى.ماته صحيح يادنه دى

---

۱) صحيح بخارى كتاب التفسير سورة ص باب قوله ((وهب لى ملكا لا ينبغى لاحد من بعدى انك انت الوهاب)) :٤٨٠٨، صحيح مسلم: ٥٤١.

۲) صحيح مسلم كتاب المساجد باب جواز لعن الشيطان فى اثناء الصلاة.....:٥٤٢. ابن حبان:١٩٧٩.

۳) احمد: ٨٢/٣، ابوداود كتاب الصلاة باب مايومر المصلى ان يدرا عن الماربين يديه: ٦٩٩. مختصرا وسنده حسن.

Scanned with Ca

چه په دريم ياځلورم ځل ئې اوفرمائيل چه که هغه بياهم شراب اوڅکی نويقيناالله تعالی به په هغه باندې ددوزخيانودبدن پيپ اووينه دقيامت په ورځ اوڅکوی.اودحضورﷺ نه مااوريدلی دی چه الله تعالی خپل مخلوق په تياره کښی پيداکړل،بيانې په هغوی باندې خپل نورواچولو.په چاباندې چه هغه ورځ دانورپريوتوهغه هدايت والاشواوچاته چه هغه نوراونه رسيدوهغه دصحيح لارنه ورک شو.په دې وجه باندې زه وايم چه دالله تعالی دعلم مطابق قلم چليدلې دې.

د سليمان ؑ درې دعاګانې: اومادرسول اللهﷺ نه اوريدلی دی چه سليمانؑ دالله تعالی نه درې دعاګانې غوښتلې وې،چه په هغې کښی دوه خوهغه ته ملاوشوې اوزمونږاميددې چه دريمه زمونږدپاره وی.①ماته داسې حکم راکړه چه هغه دستادحکم برابروی.② ماته داسې ملک راکړه چه هغه زمانه پس دچالاتق نه وی.③کوم کس چه دخپل کورنه دې جمات کښی مونځ کولوپه اراده باندې راوځی نوچه کله هغه واپس کيږی نوهغه دې داسې وی لکه چه هم نن پيداشوې وی.نوزمونږاميددې چه داورته الله تعالی زمونږدپاره ورکړې وی (۱).طبرانی کښی دی چه حضورﷺ اوفرمائيل چه الله تعالی حضرت داوٗدؑ ته دځان دپاره دکورجوړولوحکم اوکړو.حضرت داوٗدؑ اول دخپل ځان دپاره کورجوړکړو،په هغه باندې وحی راغله چه تاځان دپاره زمانه مخکښی کورجوړکړو؟داوٗدؑ عرض اوکړواې پروردګاراهم دغه فيصله شوې وه.بيائې جمات جوړول شروع کړل.ديوالونه پوره شول نواتفاقادريمه حصه ئې راوغورځيده.داوٗدؑ الله تعالی ته دعااوکړه نوجواب ورته ملاوشوچه ته زماکورنشې جوړولې،عرض ئې اوکړوولې؟اوئې فرمائيل ځکه چه دستادلاسونونه وينه توې شوې ده.عرض ئې اوکړواې الله!هغه خوهم دستاپه محبت کښی توې شوې ده.اوفرمائيل اوخوهغه زمابندګان وو.زه په هغوی باندې رحم کوم.په داوٗدؑ باندې داخبرې سختې تيرې شوې.بياوحی راغله چه مه خفه کيږه.زه به داستادځوی سليمان په لاس باندې پوره کوم.نوداوٗدؑ دوفات نه پس حضرت سليمانؑ هغه جوړول شروع کړل.کله چه پوره شونوډيرې قربانيانې ئې اوکړې اوبنی اسرائيل ئې رااوغوښتل اوپه هغوی باندې ئې اوخوړلې.نووحی په راغله چه تادامرخه زمادحکم دپوره کيدوپه خوشحالئ کښی اوکړل نوچه ته څه غواړې هغه اوغواړه تاته به ملاوشی.عرض ئې اوکړواې الله!زمادرې سوالونه دی.ماته داسې فيصله اوښايه چه هغه دستادمرضئ مطابق وی.اوداسې ملک راکړه چه هغه زمانه پس دچالاتق نه وی.اوڅوک چه دې کورته صرف دمونځ په اراده باندې راشی نوهغه دخپل ګناهونونه داسې ازادکړه لکه چه هم نن پيداشوی وی.په دې کښی دوه ځيزونه خوهغه وخت هغه ته الله تعالی ورکړل اوزماميددې چه دادريم ځيزبه هم ورکړې شوې وی (۲).رسول اللهﷺ به خپله هره دعاددې لفظونونه شروع کوله.سبحان الله رب العلی الاعلی الوهاب(۳) (مسند احمد)

يوبل روايت کښی دی چه سليمانؑ عرض اوکړوچه ای الله ماته داسې زړه راکړه کوم چه دستانه ويريږی ځنګه چه زمادپلارزړه به دستانه ويريدو.اوزماپه زړه کښی خپله مينه واچوه.ځنګه چه زمادپلارپه زړه کښی دستامينه وه.په دې باندې الله تعالی ډيرخوشحاله شوچه زمابنده زمادورکړې په وخت کښی هم صرف زمامينه اوزمانه ويره غواړی.زمادې په خپل عزت قسم وی زه به دومره لوی حکومت درکړم چه هغه به ستانه پس چاته ملاوئنشی.بياالله تعالی دهغه په ماتحتئ کښی هواګانې کړې اوپيريان ئې هم دهغه ماتحت کړل اودومره مال اودولت نه پس ئې هم هغه دقيامت په ورځ باندې دحساب کتاب نه ازادکړو.

---

(۱) احمد:۱۷۶/۲، نسائی کتاب المساجدباب فضل المسجد الاقصیٰ والصلاة فيه:٦٩٤. وسنده صحيح.
(۲) طبرانی :٤٤٧٧، مجمع الزوائد:٨/٤.
(۳) احمد:٥٤/٤..

Scanned with Ca

د داؤد ﷺ د سلیمان ﷺ په حق کښې دعا: ابن عساکر کښې دی چه حضرت داؤد ﷺ دعا اوکړه چه اني الله تعالی ادسلیمان سره هم په هغه لطف اوکرم سره پیش شه کوم لطف اوکرم چه تاپه ماباندې اوکړو.نووحی اوشوه چه سلیمان ته اووایه،چه هغه دې هم دغه شان زمااوسی څنګه چه ته زماوې.نوزه به هم ورسره هغه شان شم څنګه چه دستاسره ووم.بیابیان کیږی چه کله سلیمان ﷺ دالله تعالی په مینه کښې خانسته اووفاداراسونه حلال کړل نوالله تعالی هغه ته دهغې په څانې باندې ښه څیزونه ورکړل.یعنی هوائې دهغه تابع کړه چه هغه دیوې میاشتې سفردسحرپه یوه ګهنټه کښې ختموی.اودغه شان دمابنام هم.دکوم څانې چه اراده اوکړی په لږساعت کښې هلته اورسی.پیریان ئې هم دسلیمان ﷺ تابع کړل،چه په هغوی کښې به چاغټ غټ اوباخه کورونه جوړول چه هغه دانسان دطاقت نه بهروو، او څه غوطه خوروو چه هغوی به سمندردویږ ند لؤلؤاوهیرې اوقسم قسم قیمتی څیزونه راویستل.اوبیاځه نور هم ووچه هغوی په بیړوکښې ترلی شوی وو،داخوهغه ووچه هغوی یادحکومت خبره نه منله اوپه کار کښې به ئې شرارت اوکمی کوله یاخلق به ئې په عذابول. دازمونږمهربانی،زمونږانعام او زمونږ عطیه ده،اوتاسره اختیاردې چه څه کوئ کوه هریوځیزبې حسابه دې په څه باندې هم حساب نشته.چه څه به دستادژبې نه وخی هغه به حق وی.

رسول کریم ﷺ ته اختیار او د نبی کریم ﷺ جواب: په صحیح حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ ته اختیار ورکړې شوکه غواړې نوبنده اورسول اوسه یعنی چه څه حکم اوشی هغه منه اوکه غواړې نونبی او بادشاه شه،چه چاته غواړې ورکوه اوچه چاته نه غواړې مه ورکوه اوددې به څه حساب درنه الله تعالی نه غواړی.نوحضور ﷺ دجبرائیل ﷺ نه مشوره واخستله اودهغه په مشوره باندې ئې رومبئ خبره اومنله.ځکه چه دفضیلت په لحاظ سره هغه اعلی ده.اګرچه نبوت اوسلطنت لوې څیزدې.په دې وچه باندې دسلیمان ﷺ ددنیاعزت اوبادشاهت بیانولوسره فرمائی چه په اخرت کښې هم زمونږسره لوئې مرتبې اوبهترین بزرګی اواعلی نزدې والې شته.

وَاذْكُرْ	عَبْدَنَآ	اَيُّوْبَ				
او یاد کړه	بنده زمونږه	ایوب علیه السلام				
.....اوزمونږ بنده ایوب یاد کړه						
اِذْ	نَادٰى	رَبَّهٗٓ	اَنِّيْ	مَسَّنِيَ	الشَّيْطٰنُ	
کله چې	هغه اواز اوکړو	رب خپل ته	چې بیشکه زهٔ چې یم	مسه کړې یم زهٔ	شیطان	
څه وخت چې هغه خپل رب ته آوازاوکړو	چې شیطان زهٔ په بیمارئ او په مشقت کښې					
بِنُصْبٍ	وَّعَذَابٍ ۝	اُرْكُضْ	بِرِجْلِكَ ۚ	هٰذَا مُغْتَسَلٌۢ	بَارِدٌ	
په تکلیف سره	او په عذاب سره	اووهه	په پښه خپله (زمکه)	داوبهٔ دی دلمبولو	یخې	
اچولې یم	(جواب ورته اوشو) چې ته خپله پښه په زمکه اووهه			اود لامبلو اوڅکلو دپاره دا یوه یخه		
وَّشَرَابٌ ۝	وَوَهَبْنَا	لَهٗٓ	اَهْلَهٗ	وَمِثْلَهُمْ	مَّعَهُمْ	رَحْمَةً
اواوبه دی دڅکلو	او ورکړو مونږ	هغه ته	اهل دهغه	او نور هغومره	دهغوئ سره	په طور درحمت
چینه (راوتلې) ده	اومونږ ورته ټول اهل وعیال واپس ورکړه			اودهغوئ هومره ورسره نور هم		

Scanned with Ca

مِّنَّا	وَذِكْرٰى	لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۴۳﴾	وَخُذْ	بِيَدِكَ
دطرفه زمونږ نه	او په طور دنصيحت	دپاره دخاوندانو دعقلونو	او واخله	په لاس خپل کښې
دازمونږ مهربانۍ ده	اودعقل مندو دپاره د عبرت سبق وو	.(او ائې ايوب ﷺ) ته په خپل لاس کښې يو		
ضِغْثًا	فَاضْرِبْ	بِّهٖ	وَلَا تَحْنَثْ ؕ	اِنَّا
دنرو لختو يو موټې	پس اووهه هغه	په هغې سره	او قسم مه ماتوه	بيشکه مونږه
موټې ډکې راواخله	اوپه دې (خپله بې بې) اووهه	اوقسم مه ماتوه	..... مونږ هغه په حقيقت کښې ډير صابره	
صَابِرًا ؕ	نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ	اِنَّهٗ	اَوَّابٌ ﴿۴۴﴾	
صبر ناك	ډير ښه بنده	بيشکه هغه	رجوع کونکې دې	
بيا مونده	هغه ډير ښه بنده وو	اومونږ ته ډير رجوع کونکې وو		

قوله تعالى:: وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ

دحضرت ايوب ﷺ ذكراودهغه بيمارۍ: دحضرت ايوب ﷺ ذكركيږي اودهغه دصبرپه امتحان كښې دپاس كيدوتعريف كيږي چه مال ئې بربادشو،بچي ئې مړه شول،په بدن ئې مرض راغې. تر دې چه د ستن دسورى په مقدارئې په بدن كښې دبيمارې نه خالى ځائې پاتې نه شو.صرف زړه يې سلامت وو .اوبيادغريبئ اومفلسي داحال ووچه ديووخت خوراك ورسره نه وواوپه حال كښې ئې هم داسې څوك نه ووچه د هغوى ئې خبراخستلې وودیوې بې بې صاحبې نه علاوه چه دهغې په زړه كښې دالله تعالى ويره اودخاوندسره مينه وه.دخلقوكارونه به ئې كول اوخپله اودخاوندځيټه به ئې مړوله. اتو كالوپورې هم دغه حال وو.حالانكه ددې نه مخكښې دهغې نه څوك مالدارنه وو.اولادئې هم ډيروواود دنيا هر يو خوشحالى ورته ملاؤوه.اوس ترې هريوځيزواخستلې شو،اوكوم ځائې به چه دښمنانو غورځيدلوهغلته ايوب ﷺ راوستلې شو.په دې حال كښې يوه ورځ دوه نه،كال دوه نه بلكه پوره اتلس كاله تير شول. خپلواوپردوټولوترې مخ واړولو،اودټپوس كولووالاټې څوك پاتې نه شو.صرف دغه يوه ښځه ئې وه چه هغه به هروخت شپه اوورځ دهغه په خدمت كښې وه.اودكاركولوپه وخت كښې به دمجبورې په وجه دايوب ﷺ نه جداكيدله.اواخركاردازمينبت وخت ختم شواودالله تعالى دې بزرګ بنده الله تعالى ته منت اوزارى اوكړه اوپه رپيدونكوشوندوباندې،دزړه داخلاص نه دعااوكړه،چه ائې الله!زه غم اودردولم،اوته **ارحم الرحمين** ئې.دلته چه كومه دعاده په هغې كښې دبدن دتكليف اودمال او اولاد درد ذكردې.هغه وخت رحيم اوكريم الله تعالى دهغه دعاقبوله كړه،اوحكم اوشوچه په زمكه باندې خپله خپه اووهه. خپه وهلوسره هلته يوه چينه رااووتله حكم اوشوچه په دې اوبوباندې غسل اوكړه.غسل كولوسره ډبدن ټولې بيمارياني داسې لاړې چه لكه هغه بالكل نه وې.بياحكم اوشوچه خپله پونده اووهه. هلته خپه وهلوسره يوه بله چينه شروع شوه.حكم اوشوچه ددې اوبه اوڅكه،اددغه اوبوڅكلوسره دبدن ذننئ بيمارياني ختمې شوې اودظاهراوباطن تندرستى ورته ملاؤشوه.

دايوب ﷺ متعلق يو روايت:: ابن جريراوابن ابى حاتم كښې دى چه رسول الله ﷺ فرمائى چه اتلس كاله دالله تعالى داپيغمبرپه درد او تكليف كښې وو.خپلواوپردوټولوپريخودو.اودايوب ﷺ دوه مخلص دوستان به سحرمابنام دهغه تپوس دپاره راتلل،يوخل هغه يوبل ته اووئيل چه داسې ښكارى چه ايوب ﷺ دالله تعالى څه لويه نافرمانى كړې ده چه دهغې په وجه باندې دې اتلس كالونه په دې تكليف كښې اخته دې اوالله تعالى په دې باندې رحم نه كوى.هغه دويم كس مابنام دحضرت ايوب ﷺ ته ددې خبرې ذكراوكړو.پۀ دې باندې ايوب ﷺ ډيرسخت خفه شواواوئې فرمائيل چه ماته پته نه لږى چه هغه داسې

Scanned with Ca

ولي ونيلى دى؟الله تعالى ته ښه پته ده چه مابه دوه كسان په جهګړه باندې اوليدل اوهغوى به مينځ ته الله تعالى راوستونوزمابه دانه وه خوښه چه دالله تعالى نوم دې داسې يادكړې شى،ځكه چه په دواړوكښى به يوضرورمجرم وى اودواړه دالله تعالى نوم اخلى.مابه دخپل ځان نه هغوى ته څه ورکړل اودهغوى جهګړه به مې ختمه كړه چه دالله تعالى دنوم بې ادبى اونشى.ايوب عليه السلام به هغه وخت ګرځيدې بلكه پاسيدې هم نه شو.دمتيازونه پس به خپلې بى بى واپس راوستلو.يوځل هغه نه وه اوايوب عليه السلام ته سخت تكليف وو،هغوى په دغه ورځ باندې الله تعالى دخپل صحت دپاره دعااوكړه.دالله تعالى دطرف نه وحى اوشوه چه خپله خپه په زمكه باندې اووهه. ډيروخت پس چه دهغوى بى بى صاحبه رضي الله عنها راغله نوځه وينى چه بيمارخاوندخوئې نشته اوځوك تندرست نورانى شكل والاسړې ناست دې.اوئې نه پيژندلواوتپوس ئې ترې اوكړو،چه اې دالله نيك بنده!دلته دالله تعالى يونبى چه هغه په درداوتكليف كښى اخته وو،هغه موليدلې دې؟والله چه هغه كله جوړوونولړدستاپه شان وو.ايوب عليه السلام اوفرمائيل هغه هم زه يم.روايت كونكې فرمائى چه دايوب عليه السلام دوه كورونه وو،يودغنمودپاره اويودجوارودپاره.الله تعالى دوه وريخې راوليږلې يوې نه سره راوريدل يوكوردهغې نه دغلې ډك شواوپه بل كښى هم سره اووريدل اودويم هم ډك شو([1]).(ابن جرير)

صحيح بخارى كښى دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه حضرت ايوب عليه السلام بربنډلامبل چه داسمان نه دسرو ملخانو باران شروع شو،ايوب عليه السلام هغه زرزرپه خپلوكپړوكښى راټولول شروع كړل،نوالله تعالى ورته اوازوركړوچه ائې ايوب!ماته دټولونه غنى نه ئې پيداكړې اوته مې بې پرواه نه ئې ساتلې.ايوب عليه السلام جواب وركړوچه بالكل تاماته ډيرځه راكړى دى.زه دټولونه غنى اوبې نيازه يم،خودستادرحمت نه بې نيازه نه يم.بلكه ددې پوره محتاج يم([2]).نوالله تعالى دې صبركونكى پيغمبرته نيكې بدلې اوبهترينه جزاوركړه.اولادئې هم وركړواودهغوى په شان ئې نورهم وركړل. بلكه دحضرت قتاده رحمه الله نه روايت دې چه مړه شوى اولادئې بيارازوندى شول اودهغوى نه ئې نورهم زيات وركړل.داوودالله تعالى رحم كوم چه هغه ته دهغه په صبر،اوالله تعالى طرف ته رجوع كولو او د عجز او انكسارئ په بدله كښى ملاوشو.اودعقل لرونكودپاره عبرت اونصيحت دې چه هغوى پوهه شى چه دصبرانجام ښه،ارام اوسكون وى.

د ايوب عليه السلام د قسم متعلق احاديث: دبعضې خلقوبيان دې چه حضرت ايوب عليه السلام دخپلې ښځې دځه كار په وجه باندې دهغې نه خفه شو.بعضې وائى چه هغې به دخپلوويختويوه حصه خرڅوله اودهغه دپاره به ئې ډوډئ راوړله په دې خبره باندې خفه شواوقسم ئې اوخوړلوچه دتندرستئ نه پس به ئې سل كوړې وهم.خوداسې نيكه ښځه ددې سزاقابله نه وه كومه چه ورته حضرت ايوب عليه السلام وركول غوښتل.چه كومې ښځې دهغه خدمت اوكړوكله چه بل څوك ملګرې نه وو،په دې وجه باندې رب العالمين اوارحم الراحمين په هغې باندې رحم اوكړواوخپل نبى ته ئې حكم اوكړوچه خپل حكم پوره كولودپاره دكهجورې يوښاخ واخله چه په هغې كښى سل پانړې وى اوهغې باندې ئې يوځل اووهه. داسې كولوسره به دې قسم پوره شى اوداسې صبركونكې اوشكركونكې ښځې ته سزاهم ورنه كړې شى.هم دغه دالله تعالى دستوردې چه هغه خپل نيك بندیان كوم چه دهغه نه ويريږى،دبدونه محفوظ ساتى.بيالله تعالى دحضرت ايوب عليه السلام ثناء اوصفت بيانوى چه هغه مونږپيرصبركونكې اوضبط كونكې اوموندو،اوهغه ډيرنيك اوښه بنده وو.دهغه په ژړه كښى زمونږښتونې مينه وه.هغه زمونږ طرف ته ښكته كيدواوزمونږسره ئې مينه وه.په دې وجه باندې دالله تعالى فرمان دې،چه څوك دالله

---

[1]) الطبرى :۲۱/۲۱۱.

[2]) صحيح بخارى كتاب احاديث الانبياء باب قول الله تعالى((وايوب اذ نادى ربه انى مسنى.....)) :۳۳۹۱. احمد:۲/۳۱٤.

تعالی نه ویریږی الله تعالی دهغه دپاره دخلاصی لارپیداکړی اوهغه ته دداسې ځائې نه رزق ورکوی چه هغه دهغه په خیال کښې هم نه وی.په الله تعالی باندې توکل کولودپاره الله تعالی کافی دې.الله تعالی خپل کارپوره کوی.الله تعالی دهریوځیزدپاره یواندازمقررکړې دې.پوهه عالمانوددې ایت نه ډیرې ایمانی مسئلې وغیره ویستلی دی.والله اعلم.

							وَاذْكُرْ عِبٰدَنَآ
							| اویادکړه | بندګان زمونږ
							| او زمونږ بندګان
اِبْرٰهِيْمَ	وَاِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ	اُولِى الْاَيْدِىْ	وَالْاَبْصَارِ ۝	اِنَّآ		
ابراهیم	او اسحاق	او یعقوب	| خاوندان دلاسونو |	او دسترګو	| بیشکه مونږه		
ابراهیم ﷺ او اسحاق ﷺ اویعقوب ﷺ یاد کړه | چې د(مضبوطو)لاسونواود (سترګو) خاوندان وو							
اَخْلَصْنٰهُمْ	بِخَالِصَةٍ	ذِكْرَى الدَّارِ ۚ ۝	وَاِنَّهُمْ				
خالص کړی وو هغوئ | په خالص صفت سره | یعنی یادول دکور دآخرت |	او بیشکه هغوئ						
مونږ هغوئ په یو خاص فضیلت سره مخصوص کړی وو | چې هغه دآخرت یادساتنه ده | دغه خلق							
عِنْدَنَا	لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ	الْاَخْيَارِ ۝ ط	وَاذْكُرْ	اِسْمٰعِيْلَ	وَالْيَسَعَ		
زمونږ سره |	دغوره کړې شوؤ |	نیکانو خلقو نه ووؤ |	او یاد کړه |	اسماعیل |	او الیسع		
مونږ منتخب شوې او نیکان خلق دی | .....اواسماعیل ﷺ او یسع ﷺ							
وَذَا الْكِفْلِ ط	وَكُلٌّ	مِّنَ الْاَخْيَارِ ۝	هٰذَا ذِكْرٌ ط	وَاِنَّ			
او	ذوالکفل |	او دا ټول |	دنیکانو خلقو نه وو |	دا یو ذکر ووؤ |	او بیشکه |		
اوذوالکفل ﷺ هم یاد کړه | اودوئ ټول په نیکانو خلقو کښې شامل وو | داد نصیحت یو بیان اوشو							
لِلْمُتَّقِيْنَ	لَحُسْنَ	مَاٰبٍ ۝ لا	جَنّٰتِ عَدْنٍ	مُّفَتَّحَةً			
دپاره دمتقیانو | خامخا ښه ځائې دروتلو دی |	جنتونه دی |	دهمیشه استوګنې |	پرانستې شوی به وی				
اوپرهیزګانو دپاره پیر ښه ځائې د ورتلو دی | .....د همیشه اوسیدو باغونه دی							
لَّهُمُ	الْاَبْوَابُ ۝ ج	مُتَّكِـِٕيْنَ	فِيْهَا	يَدْعُوْنَ	فِيْهَا		
دپاره دهغوئ | دروازې (دهغې) |	ډډې وهونکی به وی |	په هغې کښې |	راغواړی به |	په هغې کښې		
دکومو دروازې چې به دوئ دپاره پرانستې پرتې وی | دوئ به په دغه باغونو کښې ډډې وهلې وی							
بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ	وَّشَرَابٍ ۝	وَعِنْدَهُمْ	قٰصِرٰتُ				
میوې	ډیرې	| او شربتونه	|	اووی به دهغوئ سره |	ښکته کتونکې (شرمنده) |		
اوډیرې میوې اوشربتونه به راغواړی | .....اوورسره به (دحیا نه) سترګې ټیټې							

Scanned with Ca

الطَّرْفِ اَتْرَابٌ ۝	هٰذَا مَا	تُوْعَدُوْنَ	لِيَوْمِ الْحِسَابِ ۝
همزولي ښځي	دا هغه څيزونه دي	چې وعده ني کيږي له تاسو سره	دپاره دورځې دحساب
سانونکي همزولي جينکې ناستي وي	داهغه نعمتونه دي	چې تاسو سره دحساب دورځې دپاره دهغې وعده کيږي	
اِنَّ هٰذَا	لَرِزْقُنَا	مَا لَهٗ	مِنْ نَّفَادٍ ۝
بيشکه دا	رزق زمونږ دي	چې نشته دي لره	ختميدل
دا زمونږ هغه ورکړه ده	چې د هغې هيڅکله خلاصي نشته		

قوله تعالی:: وَاذْكُرْ عِبٰدَنَآ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

دحضرت ابراهيمؑ اودحضرت اسحاقؑ ذکر: الله تعالی دخپل عبادت ګذارو او رسولانو د فضيلتونو ذکرکوی،دهغوی نومونه اخلی.ابراهيم،اسحاق، اويعقوب عليهم الصلوة والسلام.اوفرمانی چه دهغوی عملونه ډيرښه وواوصحيح علم ني هم لرلو.اوالله تعالی عبادت کونکی اوالله تعالی دطرف نه هغوی ته بصيرت هم ورکړي شوي وو.په دين کښی پوهه وو.الله تعالی په بندګۍ کښی بې انتهااستقامت والاوو.حق ليدونکی وو.دهغوی په نزددنياڅه اهميت نه وو،اوصرف داخرت خيال به ورسره هروخت وو.هريوعمل ني داخرت دپاره وو.ددنيادمحبت نه هغوی لري اوداخرت په ذکرکښی مشغول وو.هغه عملونه به ني کول کوم چه جنت ته بوتلووالاوو.خلقوته به ني هم دنيك عملونوترغيب ورکولو.هغوی ته به الله تعالی هم دقيامت په ورځ ښه بدله اولوي مقام ورکړی.دا د دين بزرګان دالله تعالی مخلص اوخاص بنديان وو.اسماعيل،اليسع،اوذوالکفل صلوات الله وسلامه عليهم اجمعين هم خوښ اوخاص بنديان وو.دهغوی حالات په سوره انبياء کښی تيرشوی دی ځکه ني مونږدلته نه بيانوو.په فضليتونو کښی دهغوی دپاره نصيحت دي څوك چه نصيحت حاصلولواودقبلولوعادت وی.اوداهم مطلب دي چه قران عظيم ذکريعنی نصيحت دي.

قوله تعالی:: جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ ۝

دجنت نعمتونه: دنيك،اوتقوی والاخلقودپاره په اخرت کښی څومره پاك اوخائسته خائې دي.دهميشه والی جنت دي چه دهغې دروازې به دوی دپاره نه بنديږی بلکه هروخت به کهلاووی دکهلاوولوزحمت به هم نه وی پکار.رسول اللهﷺ فرمائی چه په جنت کښی يومحل عدن دي چه دهغې اخوا ديخوا برجونه دی.اودهغې پنځه زره دروازې دی اوپه هريودروازه باندې پنځه زره څادرونه دی.په دي کښی به صرف نبیﷺ،ياصديقؓ،ياشهيد يانصاف کونکې بادشاه وی. (ابن ابی حاتم)

د جنت اته دروازې دی :: اوداخوبالکل دواضح حديث نه ثابت دی چه دجنت اته دروازې دی.په خپلو تختونو باندې به ني پرلتونه وهلی وی اوپه ارام سره به ناست وی اوچه کومې ميوې ياکوم قسم شرابو ته ني زړه اوشی حکم سره به ني ورته خدمت کونکی په ادب سره پيش کړی.هغوی سره به دهغوی ښځې وی چه هغوی عفيفه ،صفا اوښکته نظرونووالاوی اودهغوی سره به مينه اوعشق کوی.چه د هغوی سترګويه چرې هم بل چاته نه وی کتلې.دهغوی هم عمره اودهغوی دعمرلائقې به وی.ددې صفتونووالاجنت وعده الله تعالی نه د ويريدنکو بنديانوسره الله تعالی کړې ده.دقيامت په ورځ به دوی دهغې وارثان اومالکان وی. او د قبرونو نه پاسيدوسره،داورنه خلاصی موندلو،دحساب نه فارغ کيدوسره به دلته لاړشی اوارام سره به اوسيږی.دادې زمونږانعام چه په هغې کښی به کله هم کمې نه راځی اونه به داختميږی.څنګه چه فرمائيلی دی.﴿مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ﴾ تاسوسره چه څه دی هغه ختميږی اوالله تعالی سره چه څه دی هغه باقی پاتې کيدووالادی.اوپه ايت کښی غير مجذوذ دی

اوبل ځائي کښې (غَيْرُ مَمْنُوْنٍ) هم دی.مطلب داچه نه به په هغې کښې کمې اونقصان راځی اونه به هغه ختمیږی.ځنګه چه ارشادشوی دی.﴿اَكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا﴾ دهغې میوې اوخوراکونه اوسوری همیشه دپاره دی. د پرهیزګارانو انجام هم دغه شان وی اودکافرانو انجام دوزخ دی.ددې مضمون نورهم ډیرایتونه دی.

هٰذَا ؕ	وَاِنَّ
	دادې (متقیانولره) | او بیشکه
	داخبره خو اوشوه | .....او

لِلطّٰغِيْنَ	لَشَرَّ مَاٰبٍ ۙ﴿۵۵﴾	جَهَنَّمَ ۚ	يَصْلَوْنَهَا ۚ
دپاره دسرکشو خلقو	ډېر بد خائي دی داوسیدو |	دوزخ	| چې سوزی به په هغې کښې |
د سرکشو خلقو دپاره ډیر خراب ځائي دې یعنی دوزخ	چې دوئ په ورته ننوځی		

فَبِئْسَ	الْمِهَادُ ﴿۵۶﴾	هٰذَا ۙ	فَلْيَذُوْقُوْهُ	حَمِيْمٌ	وَّغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾ ۙ
پس ډیر بد دی	| خائي دقرار | دا (عذاب) دی	| پس اوځکی دوئ دا	| یشیدلې اوبه | اووینې زوی |		
نوهغه ډیر خراب ځائي دې	| داویشدلې اوبه او زوې (نو) دی	| نودوئ دې اوس ددې مزه اوځکی			

وَّاٰخَرُ	مِنْ شَكْلِهٖۤ	اَزْوَاجٌ ؕ﴿۵۸﴾	هٰذَا فَوْجٌ	مُّقْتَحِمٌ	مَّعَكُمْ ۚ
او نور	| دقسمه ددې نه	| ډېر قسمونه دعذاب | دا یو لښکر دی	| چې ننوتونکې دې | استاسو سره		
اودغسې نور ډیر څیزونه دی	| دایوه بله ډله تاسو سره داخلیږی |	دوئ دې هیڅکله هم			

لَا مَرْحَبًا	بِهِمْ ؕ	اِنَّهُمْ	صَالُوا النَّارِ ﴿۵۹﴾	قَالُوْا
نشته پخیر راغلې | دپاره ددوئ	| بیشکه دوئ	| سوزیدونکی دی په اور کښې	| او به وائی هغوئ |	
خوشحاله نه وی | .....دوئ په دوزخ کښې پریږوتونکی دی |			.....هغوئ به وائی چې	

بَلْ اَنْتُمْ ۛ	لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ؕ	اَنْتُمْ	قَدَّمْتُمُوْهُ
بلکه تاسو سوزئ | هیڅ پخیر راغلې نشته	دپاره ستاسو | هم تاسو	راوړاندې کړې دی دا عذاب	
نه بلکه هم ستاسو دې هیڅکله خوشحالی نصیب نشی | هم تاسو خوراته دا(دوزخ) رامخکښې کړې وو			

لَنَا ۚ	فَبِئْسَ	الْقَرَارُ ﴿۶۰﴾	قَالُوْا	رَبَّنَا
مونږ ته |	پس ډیر بد دی |	خائي دقرار |	اوبه وائی هغوئ |	اے ربه زمونږه |
دا ډیره د استوګنې ډیر خرابه ځائي دی |		.....هغوئ به اووائي چې ائې زمونږ ربه		

مَنْ قَدَّمَ لَنَا	هٰذَا	فَزِدْهُ	عَذَابًا ضِعْفًا
چاچې مخکښې تیار کړې دی دپاره زمونږ | دا انجام | پس زیات ورکړه هغه ته |			عذاب دوچند |
دامصیبت چې مونږ ته چا راوړاندې کړې دی | هغه ته په دوزخ کښې دوچنده عذاب ورکړه			

فِي النَّارِ ﴿۶۱﴾	وَقَالُوْا	مَا لَنَا	لَا نَرٰى	رِجَالًا
په وور کښې | اوبه وائی په خپل منځ کښې	| څه شوی دی مونږ لره | چې نه وینو	| هغه سړی |		
.....او وائی به چې څه خبره ده |		.....چې مونږ هغه خلق دلته نه وینو		

Scanned with Ca

كُنَّا	نَعُدُّهُمْ	مِّنَ الْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾	أَتَّخَذْنَاهُمْ	سِخْرِيًّا
چې وو مونږه	چې شمارل به مونږ هغوئ	دناکاره خلقو نه	آیا نیولی وو مونږ هغوئ	په ټوقو سره
کوم چې به مونږ په شریرو خلقو کښې شمیرل	دا مونږ ور پورې هسې ټوقې کولې که نه			
أَمْ زَاغَتْ	عَنْهُمُ	الْأَبْصَارُ ﴿٦٣﴾	إِنَّ ذَٰلِكَ	لَحَقٌّ
او که کړې شوې	دهغوئ نه	سترګې زمونږ	بیشکه	دا خبره	خامخا حقه ده
زمونږ نظرونه هغوئ نه اوړېدلی را اوړېدلی دی	بیشکه ددوزخیانو مینځ کښې			
تَخَاصُمُ	أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾	قُلْ	إِنَّمَا	أَنَا مُنذِرٌ ﴿٦٥﴾
دیو بل سره جګړه	ددوزخ والو	ورته اووایه	بیشکه	زه یرونکې یم
داجګړه بالکل حقه خبره ده	ته اعلان اوکړه چې زه خو صرف یو ویرونکې یم			

قوله تعالی:: إِنَّ هَٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾

ددوزخ سختیاني: په تیرشوی ایت کښې دنیکانوذکرشوې دې نوپه دې ایت کښې دبدکاروبیان فرمائی څوك چه دالله تعالی حکم نه منی،چه دهغوی دواپسئ ځائې ډیرخراب دې اوهغه دوزخ دې چه په هغې کښې به داخلق داخلیږی اودځلوروطرفونه به دوی ددوزخ اورګیرکړی.دادیرسخت ځائې دې.«حمیم» هغه اوبوته وائی چه دهغې ګرم والې اوحرارت بې انتهاوی.نویوطرف ته داورسخت عذاب اوبل طرف ته دیخنئ عذاب اودغه شان مختلف عذابونه،چه هغه دیوبل التې وی.

غساق څه ځیز دې :: مسنداحمدکښې دی چه رسول اللهﷺ فرمائی که دغساق یوبالتې په دنیاکښې توئ کړې شی نوټوله دنیابه دخراب بوئی والاشی. (۱)حضرت کعب احبارؒ فرمائی چه دوزخ کښې غساق نومې یونهردې چه په هغې کښې دمارانو او لړمانانو زهروغیره جمع کیږی بیاهغه ګرم والی په وجه باندې پاخه شی.په دې کښې دوزخیانوته غوتې ورکولې کیږی اوپه هغې کښې به دهغوی ټوله غوښه وئیلی شی اوپندوپورې به وینځلی.چه هغه به هغوی داسې راکاګی لکه یوکس چه خپلې جامې شلوی.(ابن ابی حاتم)

قوله تعالی:: لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ۖ

د دوزخیان یو بل سره جنګ: یعنی دیخنئ عذاب به بیل وی اودګرمئ عذاب بیل.دځکلودپاره حمیم اوخړلو دپاره زقم.کله به داورپه غرونوباندې خیژولې شی نوکله به داورکندوته غورځولې شی الله تعالې دې مونږټول دعذاب نه بچ کړی.اوس ددوزخیانودجهګړې اودهغوی دخبروبیان کیږی ځنګه چه په یوبل ایت کښې دی.(كُلَّمَا دَخَلَتْ) چه هره یوه ډله به په بل باندې دسلام په ځائې لعنت کوی،یوبل به دروغژن ثابتوی اوپه یوبل باندې به الزامونه لږوی.یوه ډله کومه چه به مخکښې دوزخ ته تلې وی هغه به بله ډله ددوزخ داروغه ته راتلوسره وینې نووائی به چه تاسوسره کومه ډله ده دوی ته مرحبامه وائې خکه چه داهم دوزخی ډله ده.هغه راتلونکی به دوی ته وائی چه دستاسودپاره دې مرحبانه وی هم تاسوخوبه خرابوکارونوته خلق رابلل،چه دادهغې انجام دې.نوخراب منزل دې.بیابه وائی چه انې الله تعالی!چاچه زمونږدپاره دځانې جوړکړوته دهغوی عذابونه یوپه دوه کړه.ځنګه چه فرمان دې.﴿قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا﴾ یعنی روستوبدکاره خلق به رومبی بدکاره خلقوپه باره کښې عرض کوی

---

(۱) ترمذی کتاب صفة جهنم باب ماجاء فی صفة شراب اهل النار: ۲۵۸٤.

چه انې الله تعالی! مونږهم دوی ګمراه کړی یو،نوته ددوی عذابونه زیات کړه.الله تعالی به فرمائی دهریودپاره زیات دی.خو تاسوته پته نشته.یعنی دهریودپاره داسې عذاب دې چه هغه دهغه دپاره کافی دې.اوکافران به هلته مومنان نه وینی چه هغوی به دهغوی په خیال کښی دهوکه شوی وو.نوپخپلوکښې به ذکرکوی چه ددې څه وجه ده چه مونږته مسلمانان په دوزخ کښی نه ښکاری؟ حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ابوجهل به وائی چه بلال،عماراوصهیب وغیره کوم خائې دی؟هغوی خونه ښکاری.([1])غرض داچه دهرکافربه هم داوائی چه هغه خلق چاته به چه مونږپه دنیاکښی وران خلق وئیل هغه نن په نظرنه راځی.دازمونږغلطی وه چه هغوی به مونږپه دنیاکښی صحیح نه ګڼړل اوهغوی پسې به موتوقې کولې؟زمونږدامعامله هغوی سره صحیح وه اوهغوی به په دوزخ کښی وی خوداسې ځائې کښی به وی چه مونږته نه ښکاری.دغه وخت کښی به دجنتیانودطرف نه اوازراشی چه انې دوزخیانو! دیخوا اوګورئ،مونږخودخپل رب وعده رښتیاکیدل اولیدل.تاسوخپله وائې.دالله تعالی وعدې رښتیاشوې؟دوی به جواب ورکړی هوبالکل رښتیاشوې.دغه وخت کښی به یواوازکونکې اووائی چه په ظالمانودې دالله تعالی لعنت وی.هم ددې بیان دقران په ایت کښی د﴿وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ﴾ نه دآیت﴿وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ﴾ پورې دې.بیافرمائی چه ای نبی(ﷺ)چه کوم خبرزه تاته درکوم چه دوزخیان به په دې خبروباندې جهګړې کوی اوپه خپلوکښی به یوبل ته خبرې کوی،دابالکل صحیح اوټهیک خبردې. چه په دې کښی څه شك نشته.

قُلْ	اِنَّمَآ	اَنَا مُنْذِرٌ ۖ	وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ			
ورته اووایه	بیشکه	زهٔ یرونکې یم	او نشته څوك معبود			
ته اعلان اوکړه چې زه خو صرف یو ویرونکې یم			او د یو غالب			
اِلَّا اللّٰهُ	الْوَاحِدُ	الْقَهَّارُ ۝	رَبُّ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ		
سوا دالله نه	چې یو دی	په ټولو غالب دی	چې رب دآسمانونو	او دزمکې دی		
الله ﷻ نه سوا بل هیڅوك معبود نشته			.....هغه دآسمانونواو دزمکې اود دې دواړو			
وَمَا بَيْنَهُمَا	الْعَزِيْزُ	الْغَفَّارُ ۝	قُلْ			
او دهغه څه چې په منځ ددې دواړو کښی دی	چې غالب دی	ببنونکې دی	ورته اووایه			
په مینځ کښې چې څه دی دټولو څیزونو رب دی	زبردست دی ډیربښونکې دی		ته ورته اووایه			
هُوَ نَبَؤٌا	عَظِيْمٌ ۝	اَنْتُمْ	عَنْهُ	مُعْرِضُوْنَ ۝	مَا كَانَ لِيَ	مِنْ عِلْمٍ
دا یو خبر دی	لوئ	تاسو	ددې نه	مخ اړونکی یئ	نه ووٴ ماته	هیڅ علم
هغه (قیامت) یولوئ خبر دی	دکوم نه چې تاسو مخ اړوئ		ماته د برئ دنیا د فرښتو هیڅ څیز			
بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰٓى	اِذْ	يَخْتَصِمُوْنَ ۝	اِنْ يُّوْحٰٓى	اِلَيَّ	اِلَّآ	
په ډله لویه (د فرښتو) باندې	کله چې	هغوئ جګړه کوله	نه کیږی وحی	ماته	مګر په دې وجه	
خبر نه وو	هرکله چې هغوئ په خپل مینځ کښې(په پیدا وښت دادم علیه السلام) بحث کولو		ماته خودوحی په ذریعه			

[1]) الطبری :۲۳۲/۲۱.

اَنَّمَآ	اَنَا	نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝	
چې بيشکه	زه	يرونکې يم ښکاره	
صرف داخو دلې شی	اچې زه ښکاره ويرونکې يم		

قوله تعالی:: قُلْ اِنَّمَآ اَنَا مُنْذِرٌ

د نبی کریم ﷺ باره کښې دکافرانو غلط خیال او دهغه جواب:: الله تعالی نبی ﷺ ته حکم کوی چه کافرانوته اووایه چه زماباره کښی دستاسوخیالونه غلط دی،زه خوتاسوته دویرې خبر رارسولو والا یم. او الله تعالی یواځې دې اودهغه شریک څوک نشته اودهغه نه علاوه څوک دعبادت لائق هم نشته.هغه یواځې دې اوپه هرځیزباندې غالب دې،هریوځیزدهغه ماتحت دې.هغه دزمکې اسمان اودهرځیزمالك دی او دې کښی هرڅه دهغه په قبضه کښی دی.هغه دعزتونووالادې اوددې عزتونوسره سره هغه بخښلو والا دې.

قوله تعالی:: قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيْمٌ ۝

دنبی ﷺ یوخائسته خوب :: داډیرلوې څیزدې یعنی زمادرسول په حیثیت باندې تاسوته راتلل.خوتاسوائې غافلانوازمابیان کړی حقیقتونونه انکار کوئ ،داهم وئیلی شوی دی چه داډیرلوې څیزدې،یعنی قران.دحضرت ادم علیه السلام باره کښی د فرښتو مینځ کښی څه اختلاف ووکه دالله تعالی وحی ماته نه وې راغلې نوماته به دهغې باره کښی څه علم وې؟ د ابلیس ادم علیه السلام ته سجده نه کول اودالله تعالی مخکښی دهغې مخالفت کول اودخپل ځان لوې والی بیانول وغیره.داتولې خبرې به ماته څنګه معلومې شوې وې؟

مسنداحمدکښی دی چه یوه ورځ دسحرپه مونځ کښی حضور ﷺ ډیرناوخته کړو،تردې چه د نمر راختلو وخت شو.بیائې زرزرتشریف راوړاوتکبیرئې اووئیلواوحضور ﷺ سپك مونځ اوکړو.دهغې نه پس ئې مونږته اوفرمائیل،چه لږساعت صبراوکړئ.بیائې مونږته اوفرمائیل،بیګاه مادتهجدمونځ کولوچه ماته خوب راغې،تردې چه زه راویښ شوم اوماوئیل که زه دخپل رب سره یم.ماخپل رب په ډیرخائسته حالت کښی اولیدو.ماته الله تعالی اوفرمائیل، تاته پته لږی داسمانونوفرښتې اوس دڅه باره کښی تپوسونه کوی؟ ماعرض اوکړوائې زمارب! ماته څه پته ده؟دریځله دسوال اوجواب نه پس ماولیدل چه زما ددواړو اوږو مینځ کښی الله تعالی خپل لاس کیخودو،تردې چه دګوتویخوالې ماپه سینه کښی محسوس کړو،اوپه ماباندې هریوځیزښکاره شو.بیائې ماته اوفرمائیل اوس وایه ملاأعلی کښی څه خبرې کیږی؟ماواووئیل دګناهونودکفارې باره کښی.اوئې فرمائیل اووایه کفاره څه څه ده؟ماواووئیل د جمع مونځ دپاره قدمونه اخستل،دمونځ نه پس په جماتونوکښی کیناستل اودزړه نه غوښتلوسره هم پوره اودس کول.بیامانه زمارب تپوس اوکړو.درجې څه دی؟ماواووئیل په چاډوډئ خوړل،په خبروکښی نرمی اختیارول.اودشپې چه کله خلق اوده وی مونځ کول.اوس ماته خپل رب اووئیل چه اوغواړه څه غواړې؟ماواووئیل،چه زه غواړم،نیکئ کول،دخرابئ پریخودل،دغریبانانوسره مینه کول،اوستابخښنه او رحم اوچه کله ستاارااده په یوقوم باندې دفتنې وی نوپه هغه فتنه کښی داخته کیدونه مخکښی مرګ او ستامینه اوتاسره دمینه کونکومینه اودهغې کارونومینه کوم چه تاته نزدې کولووالاتی.ددې نه پس حضور ﷺ اوفرمائیل چه دابالکل رښتیادی،داوایئ اوخلقوته ئې هم بنایئ.(۱) داحدیث دخوب دې او مشهورهم دې.بعضې وائی چه دویخې دحالت واقعه ده،خوداغلطه ده اوصحیح داده چه داخوب دې او دا خیال هم دې چه دفرښتوپه قران کښی ردوبدل کومه خبره دې ایت کښی شوې ده هغه دانه ده،کومه

---

(۱) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة صاد: ۳۲۳۵. وسنده حسن.

Scanned with Ca

چه دې حديث کښې بيان شوې ده.اوداسوال اوجواب هغه دی چه دکومې ذکريه ددې نه پس وې راتلونکی ايتونه اولولئ.

اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ	
کله چې اووئيل ربستا فرښتو ته بيشکه زهٔ	
هرکله چې ستارب فرښتو ته اووئيل چې زه د	
خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ۝ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ	
جوړونکې يم ديو بشر دختې نه پس هر کله چې زهٔ پوره جوړ کړم هغه اوپوک وهم زهٔ	
ختې نه انسان جوړول غواړم بياهرکله چې زه هغه پوره کړم اود خپل طرف نه په کښې روح	
فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ۝ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ	
په هغه کښې ادروح خپل نه انوپريوزئ هغه ته سجده کونکی پس سجده اوکړه فرښتو	
پوک وهم نو تاسو ټول هغه ته په سجده پريوځئ نوټولو فرښتو په جمع	
كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ۝ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝	
ټولو په جمع سره مګر اونهٔ کړه ابليس الوئي نې اوکړه او ووٗ دې دکافرانو نه	
سجده اوکړه خو يو ابليس اونه کړه ..... ځان ئې لوئي اوګڼلو اود کافران ځنو شو	
قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ	
اووئيل الله اے ابليسه څه څيز منع کړې تهٔ چې تا سجده کړې وې هغه چاته چې جوړ کړې دې ما	
(الله ﷻ) تپوس کوی چې ائې ابليس ته څه څيز هغه ته دسجدې کولو نه منع کړې څوک چې	
بِيَدَيَّ ؕ اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ۝ قَالَ	
په لاسونو خپلو سره آيا تکبر اوکړو تا يا نې تهٔ دلويو خلقو نه اووئيل ابليس	
ما په خپلو لاسونو جوړکړې دې آيا ته په تکبر کښې راغلې ايا ته دمرتبې خاوند يئ ابليس اووئيل	
اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ؕ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ۝ قَالَ	
زهٔ بهتريم ددهٔ نه تاپيدا کړې يم زهٔ دوور نه او پيدا کړې د دې هغه دختې نه اووئيل الله	
زه ده نه بهتر يم تا زه د اور نه پيدا کړې يم او دې دې د ختو نه پيدا کړې دې حکم اوشو	
فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ۝ وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْٓ	
پس اوزه ددې خائې نه پس بيشکه تهٔ رټلې شوې نې او بيشکه په تاباندې لعنت زما دې	
ددې دربار نه بهرته اوزه ته رټلې شوې يئ او په تا باندې به تر ورځې دقيامت پورې	
اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ۝ قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ	
دورځې دجزا پورې اووئيل ابليس اے ربه زما پس مهلت راکړه ماته دهغه ورځې پورې	
زما لعنت وريږی هغه اووئيل چې ائې زما ربه ! ماته ترهغې ورځې پورې مهلت راکړه	

Scanned with Ca

يُبْعَثُوْنَ ﴿۷۹﴾	قَالَ	فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۸۰﴾
چې دوباره به راپاسولې کيږي خلق	اووئيل الله	پس بې شکه ته دمهلت ورکړې شوې نه ئې
چې مړی به دوباره راپاڅولې شی	الله ﷻ اووئيل څه تاته مهلت دې	
اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿۸۱﴾	قَالَ	فَبِعِزَّتِكَ
دورځې دوخت معلوم پورې	اووئيل ابليس	پس قسم دې په عزت ستا
ديو ټاکلې ورځې پورې	.....(ابليس) اووئيل چې ستا په عزت مې دې قسم وی	
لَاُغْوِيَنَّهُمْ	اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۲﴾	
خامخا زۀ به دوکه کوم دا خلق	ټول	
زه به دوئ ټول گمراه کوم		

کله چه ستارب فرښتوته اوفرمائيل چه دخاورې نه انسان پيداکوم،اوچه کله زه هغه جوړکړم اوپه هغې کښې خپل روح واچوم نوتاسوهغه ته سجده اوکړئ.نوټولوفرښتوسجده اوکړه اوابليس اونه کړه،هغه کبراوکړواوهغه خوپه کافرانوکښې وو.الله تعالى ابليس ته اوفرمائيل ابليس!تاولې ده ته سجده اونه کړه څوک چه ماپخپلو لاسونوپيداکړو.ولې تاته خان اوچت ښکاری؟ياته دلو يو د رجو والاتې؟هغه جواب ورکړوچه زه دده نه ډيرښه يم،تازه داورنه پيداکړې يم،اودې ئې دخاورې نه پيدا کړو. ارشاد اوشو چه ته ددې ځائې نه اوځه ته مردودشوې. اوپه تاباندې دې دقيامت پورې زمالعنت وی.اوئې ونيل ائې زما رب!ماته دخلقودبياپاسيدوورځې پورې مهلت راکړه،الله تعالى ورته اوفرمائيل ته دمهلت والا خلقوکښې ئې.دمقررشوی تاريخ پورې.نواوئې وئيل چه دستاپه عزت مې قسم زه به دوی ټول دهوکه کړم سوادهغه خلقونه کوم چه خاص بندګان دی.اوئې فرمائيل چه ته رښتياوائې اوزه رښتياکوم،زه به ستااوستامنلووالونه دوزخ ډک کړم.

قوله تعالى::اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ﴿۷۱﴾

دادم ﷺ دپيدائش ذکر: داقصې په سوره اعراف،سوره حجر،سوره سبحان،سوره کهف اوپه سوره (ص) کښې بيان شوې ده.دحضرت ادم ﷺ دپيدائش نه مخکښې الله تعالى فرښتوته خپله اراده بيان کړه چه زه دخاورې نه انسان پيداکوم.چه کله زه هغه پيداکړم نوتاسوبه هغه ته سجده اوکړئ چه زما د فرمانبرداری سره د(حضرت)ادم دشرافت اوبزرګئ اظهارهم اوشی.نوټولوفرښتوحکم اومنلو.اوابليس اونه منل چه دې دفرښتودجنس نه نه وو،بلکه په جناتو کښې وو.فطرتی خبائث اوسرکشی ئې ښکاره شوه.سوال تړې اوشوچه دومره عزت داره مخلوق چه هغه ماپه خپل لاسونوباندې جوړکړو،تازمادحکم نه پس هم سجده ولې اونه کړه؟داکبراوداسرکشی؟نواوئې وئيل چه زه افضل اواعلى يم،چرته دخاورې جوړاوچرته داور؟دې خطاکونکی ددې په پوهيدوکښې غلطی اوکړه اوالله تعالى دحکم دمخالفت په وجه باندې غرق شو.حکم اوشوچه زما د مخې نه لرې شه زمادربارته ستا په شان نافرمانوراتلل نشته،اوس ته زمادرحمت نه لرې شوې اوپه تاباندې به داخرپورې لعنت وی اوته دخيرنه مايوس شه.هغه دالله تعالى نه دعااوکړه چه ماته دقيامت پورې مهلت راکړه هغه حليم الله تعالى چه کوم دخپل مخلوق په ګناهونوباندې هغوی هغه وخت نه نيسی اودهغوی سوال پوره کوی اودقيامت پورې ئې هغه ته مهلت ورکړو.اوس ئې اووئيل چه زه به دده ټول اولاددهوکه کوم.صرف مخلص خلق به بچ شی.الله تعالى ته داهم منظوروه.ځنګه چه دقران کريم په نوروايتونوکښې دی.﴿قَالَ اَرَءَيْتَكَ هٰذَا الَّذِيْ كَرَّمْتَ عَلَيَّ﴾ الخ، او﴿اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ﴾ الخ،﴿قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ﴾ الخ، لرهمجاهددپيش سره ونيلې دې

معنی داده چه زه خپله حق یم اوزماخبره حق پکارده.په یوبل روایت کښی دهغه نه هم داسې روایت شوی دی چه حق زمادطرف نه دی اوزه هم حق وایم (۱).نورودواړه لفظونه په زبرباندې وټیلی دی. سدی رحمه الله وائی داقسم دي.(۲) زه وایم چه دایت دهغه ایت په شان دي.﴿وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّيْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ یعنی زماقول اخری دي چه خا مخا به دوزخ دهغه قسمه انسانانواوپیریانونه ډک کړم.اوځنګه چه فرمان دي.﴿اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ﴾ کوم کس چه به ستااومنی هغه ته به پوره سزاورکړم.

					إِلَّا عِبَادَكَ	مِنْهُمُ
					ماسوا دبندګانو ستا نه	ددوئ نه
					ستا د هغه بندګانو نه سوا کوم چې	
الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۸۳﴾	قَالَ	فَالْحَقُّ ۖ	وَالْحَقَّ	اَقُوْلُ ﴿۸۴﴾	لَاَمْلَئَنَّ	
چې خالص کړي شوی وی	اووئیل الله	پس حقه خبره داده	او حق خبره وایم زه	خامخا به زه ډک کړم		
ستا مخلص دی	الله ﷻ اوفرمائیل چې زه درته رښتیا وایم		اوزه خو تل رښتیا وایم	چې		
جَهَنَّمَ	مِنْكَ	وَمِمَّنْ	تَبِعَكَ	مِنْهُمْ	اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۵﴾	قُلْ
دوزخ	ستانه	او دهغه چانه	چې پیروی ئې اوکړه ستا	ددوئ نه	ټول	ورته اووایه
زه به ستا نه اوستاد ټولومنونکو نه دوزخ ډک کړم				(ائې پیغمبره) ته ورته اووایه چې		
مَآ اَسْـَٔلُكُمْ	عَلَيْهِ	مِنْ اَجْرٍ	وَّمَآ اَنَا		مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ﴿۸۶﴾	
زه نه غواړم ستاسو نه	په دې کار باندې	څه اجر	اونه یم زه		دتکلیف کونکو (بناوټیانو) نه	
زه ستاسونه په دې قران باندې هیڅ اجر نه غواړم			اونه زه تکلف کونکې یم			
اِنْ هُوَ	اِلَّا	ذِكْرٌ	لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾	وَلَتَعْلَمُنَّ	نَبَاَهٗ	بَعْدَ حِيْنٍ ﴿۸۸﴾
نه دي دا	مګر	یو نصیحت دي	دپاره دخلقو	اوخامخا به معلوم شی تاسو ته	اخبر ددې	پس دځه مو دې نه
دا خوددنیا خلقو دپاره یو نصیحت دي				اویقینی طور زر به دې خلقو ته ددې حقیت معلوم شی		

قوله تعالی:: قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ

د نبی کریم ﷺ دصداقت او حقانیت بیان: الله تعالی خپل نبی ﷺ ته حکم ورکوی چه په خلقوکښی ته اعلان اوکړه چه ددین په تبلیغ اودقران په حکمونوباندې دستاسونه څه مزدوری یابدله نه غواړم.ددې نه زمامقصدځه د دنیا فائده حاصلول نه دی اونه زه تکلف کولووالایم چه الله تعالی نازل کړې نه وی اوزه نې اولیکلم.بلکه ماته چه څه رارسولې شی هغه زه تاسوته دررسوم،نه پکښی کمې کوم اونه زیاتې.اوزماددې نه مقصد صرف دالله تعالی رضااومرضی ده.حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی خلقواچاته چه دیوې مسئلې علم وی هغه خلقوته بیان کړئ چه هغوی ته نه وی معلومه،اوالله تعالی ته هرڅه معلوم دی.اوکورئ الله تعالی خپل نبی ﷺ ته هم په دې ایت کښی دغه وټیلی دی چه تکلف نه

---

(۱) الطبری :۲۱/۲٤۲.
(۲) الطبری :۲۱/۲٤۲.

Scanned with Ca

کوم (۱) داقران دتولو انساتلنو اوپیریانو دپاره نصیحت دي.اوځنګه چه په ایت کښی دی ﴿ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَنْ بَلَغَ ﴾ چه تاسو او کومو خلقو ته به چه دارسی هوښیارکړم.اوپه ایت کښی دی چه ﴿وَمَن يَكْفُرْ بِهِ﴾ کوم کس چه به دي باندي کفر اوکړی هغه دوزخی دي.زمادخبروحقیقت.اوزمادکلام دتصدیق زمادبیان رښتیا والي ،زما د ژبې رښتیاوالي تاسوته به زرمعلوم شی،یعنی دمرګ نه پس،اود قیامت شروع کیدوسره.دمرګ په وخت کښی به مویقین اوشی اوزماوئیلي شوي خبرې به مومخې ته راځی،والله اعلم بالصواب.

الحمدلله دالله تعالی په فضل اوکرم سره دسوره ص تفسیرختم شودالله تعالی په انعام اواحسان باندي دهغه شکردي.

دتفسیرابن کثیرداتم جلدترجمه ختمه شوه.اوس دنهم جلدترجمه شروع کیږی.الله تعالی دي مونږته دخپل پاک کلام وئیلو،پوهیدلواوپه دي باندي دعمل کولوتوفیق راکړی.امین.

تفسیرسورة زمر

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه حضورﷺ به نفل روژې یوبل پسې داسې نیولې چه زمونږبه خیال ووچه اوس به حضورﷺ دانیول نه پریدی.

اوداسې به هم ووچه حضورﷺ به روژې نه نیولې تردي چه زمونږبه داخیال ووچه اوس به نې بالکل نه نیسی،اوهره شپه به حضورﷺ دسوره بقره اوسوره زمرتلاوت کولو(۲).

ایاتونه		سورة الزمر مكية وهي خمس وسبعون اٰية وثماني ركوعات		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
①		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دي		⑧
تَنْزِيْلُ	الْكِتٰبِ	مِنَ اللّٰهِ	الْعَزِيْزِ	الْحَكِيْمِ ①
نازلیدل	ددي کتاب	دطرفه دالله نه دی	چی غالب دي	دحکمت خاوند دي
داکتاب دالله ﷻ د طرفنه نازل شوي دي اچې غالب دي صاحب د حکمت دي				
اِنَّآ اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ	فَاعْبُدِ اللّٰهَ
بیشکه نازلي کړي دي مونږه	تاته	دا کتاب	دحق سره	پس بندګی کوه دالله
مونږ دا کتاب په حق مضامینو مشتمل ستا طرفته نازل کړي دي				نوته په اخلاص سره دالله ﷻ
مُخْلِصًا	لَّهُ	الدِّيْنَ ②	اَلَا	لِلّٰهِ	الدِّيْنُ الْخَالِصُ
حال دا چې خالص کونکې ئې	هغه لره	ددین (خپل)	خبردار	الله لره حق دي	دین خالص
عبادت کوه	.....				یادساته! خالصه بندګي هم دالله دپاره ده
وَالَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِهٖٓ	اَوْلِيَآءَ	مَا نَعْبُدُهُمْ
اوهغه کسان اچې نیولی دی هغوئ	غیر دالله نه	دوستان نور	وائی چې نه کوومونږعبادت ددوئ	
اوچاچې دالله ﷻ نه سوا نور شریکان نیولی دی	.....			اوداوائی چې

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر صورة صاد باب قوله تعالی ((وما انا من المتکلفین)) :٤٨٠٩. صحیح مسلم:٢٧٩٨.

(۲) احمد:١٨٩/٦، ترمذی : کتاب فضائل القرآن باب قرءة سورة بنی اسرائیل والزمر:٢٩٢٠. وسنده حسن.

Scanned with Ca

اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ	اِلَى اللّٰهِ	زُلْفٰى ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	
مگر دپاره ددې چې نزدې کړې دوئ مونږه	الله ته	په نزدیکت سره	بیشکه الله	
مونږ خو صرف الله تعالی د نزدیکت دپاره د دوی عبادت کوو	.....		بیشکه الله	
يَحْكُمُ	بَيْنَهُمْ	فِيْمَا	هُمْ فِيْهِ	
به فیصله کوی	په منځ ددوئ کښې	په هغه کارونو کښې	چې دوئ په هغې کښې	
به د دوی په مینځ کښې په هغې خبرو کښې فیصله اوکړی په کومو کښې چې دوی اختلاف کولو				
يَخْتَلِفُوْنَ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	لَا يَهْدِيْ	مَنْ	هُوَ كٰذِبٌ	كَفَّارٌ ۝
اختلاف کوی	بیشکه الله	نه ښائی لار	هغه چاته	چې هغه دروغژن وی	ناشکره وی
.....	الله ﷻ هغه چاته هدایت نه کوی		چې دروغژن او انکار کونکې وی		
لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ	اَنْ يَّتَّخِذَ	وَلَدًا	لَّاصْطَفٰى	مِمَّا	
که اراده لرله الله	چې اونیسی	څوئې	نو خامخا به ئې غوره کولې	دهغې نه	
که الله ﷻ ځانله اولاد نیول غوښتل	نو پخپل مخلوق کښې څوک چې ئې خوښ وو				
يَخْلُقُ	مَا يَشَآءُ ۙ	سُبْحٰنَهٗ ؕ	هُوَ اللّٰهُ	الْوَاحِدُ	
چې پیدا کوی ئې هغه	هغه چې ئې غوښتلې	پاکی ده هغه لره (ددې نه)	هغه الله	یو دې	
هغه به ئې منتخب کړې وو	هغه (الله) دپاره پاکی ده	..... هغه الله ﷻ یوذات دې			
الْقَهَّارُ ۝					
غالب دې					
زبردست دې					

قوله تعالی:: تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝

د قران پاک د حقانیت بیان: الله تعالی خبرورکوی چه داقران عظیم هم زماکلام دې اوهم ما نازل کړې دې. ددې په ربښتیاوالی کښې څه شك اوشبه نشته.څنګه چه یوبل ځائې کښې ایت دې.﴿ وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾دادرب العالمین دطرف نه نازل شوې دې.اوداروح الامین راوړلې دې.دستا په زړه باندې نازل کړې دې چه ته خلقوته رسولو والا جوړ شې. په صفااوخائسته عربئ ژبه کښې دې. اوایتونوکښې دې.دادعزت والاکتاب دې چه ددې دروستویامخې نه باطل راتلې نشی.داحکمت او تعریفونووالاالله تعالی دطرف نه نازل شوې دې.دلته ئې فرمائیلی دی چه داکتاب دډیرزیات عزت اوحکمت والاالله تعالی دطرف نه نازل شوې دې.چه هغه په خپلوقولونواوکارونو،شریعت اوتقدیرکښې دټولو حکمتونو والادې.

قوله تعالی:: اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ

الله تعالی مالک اودعبادت لائق دې مونږدستاطرف ته داکتاب دحق سره نازل کړو.تاته پکاردی چه پخپله دالله تعالی په توحیدکښې مشغول اوسې اونورخلق هم دې طرف ته رابلې.ځکه چه دالله تعالی نه علاوه چاته عبادت کول نه دی پکار.هغه لاشریك دې اوبې مثال دې دهغه څوك شریك نشته.دخالص دین

Scanned with Ca

یعنی دتوحیدلائق هم هغه دې.بیائې دمشرکانوناپاکه عقیده هم بیان کړې ده چه هغوی فرښتې دالله تعالی نزدی ګنړلوپه وجه دهغوی خیالی تصویرونه جوړوی اوهغوی ته سجدې کوی.په دې ګنړلوسره چه دوی دالله تعالی نیازبین دی اومونږبه دالله تعالی نیازبین کړی.اوزمونږپه رزق اوپه هریوځیزکښی به برکت وی.اودامطلب ئې نه وی چه دقیامت په ورځ باندې به مونږته اوچته اوالله سره نزدې درجه راکړی ځکه چه قیامت خوهغوی نه منی.داهم وئیلی شوی دی چه دوی هغوی خپل سفارشیان ګنړی،دجاهلیت په زمانه کښی چه به حج ته لاړل نوهلته به ئې لبیك وئیلوکښی وئیل.(لبیك لاشریك لك الا شریكا هولك تملكه وماملك)یعنی ائې الله امونږخوتاته حاضریو،ستاځوك شریك نشته،خوداسې شریکان چه دهغوی مالك هم ته خپله ئې اوکوم څیزونه چه دهغوی ماتحت دی دهغې مالك هم ته ئې.داشك دمخکښنو او روستنوتولومشرکانوته وواوتولونبیانوددې دلرې کولوکوشش کولواوصرف دیوالله تعالی عبادت طرف ته ئې رابلل. داعقیده مشرکانوبې دلیله جوړه کړې وه اوالله تعالی ددې نه بیزار وو.فرمائی. ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا﴾ یعنی هریوامت ته مونږرسول اولیږلوچه هغوی دیوالله عبادت ته رااوبلی اودالله نه سوا دهرچا دعبادت نه ئې لرې کړی.﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ﴾ یعنی ستانه مخکښی چه څومره رسولان مونږلیږلی دی،تولوته موهم دغه وحی لیږلې ده چه دعبادت لائق صرف الله تعالی دې.بس تاسوزماعبادت کوئ.ورسره داهم بیان فرمانیلی دې چه په اسمان کښی څومره فرښتې دی که هغه څومره لوې مرتبې اوعظمت والاولې نه وی تولې دالله تعالی مخکښی عاجزه او غلامې دی.دومره ورسره هم اختیارنشته چه دچاپه سفارش کښی شونډې اوخوزوی.

د یوې غلطې عقیدې وضاحت: داعقیده غلطه ده چه هغوی دالله تعالی سره داسې دی لکه بادشاهانوسره چه وزیران اومالدارخلق وی چه هغوی دچاسفارش کوی دهغه کار اوشی .ددې باطلې اوغلطې عقیدې نه په دې سره منع شوې ده چه ﴿فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ﴾ دالله تعالی مخکښی مثالونه مه بیانوه.الله تعالی ددې نه اوچت دې.دقیامت په ورځ به الله تعالی دخپل مخلوق رښتونې فیصله اوکړی.اوهریوته به دهغه دعملونوبدله ورکړی.دوی ټول به جمع کړی اوفرښتونه به تپوس اوکړی چه دې خلقوبه تاسوته سجدې کولې؟هغوی به جواب ورکړی چه ته پاك ئې،بلکه زمونږ پیداکونکې خوهم ته ئې،دې خلقوخوبه پیریانوته عبادت کولواوپه دې کښی دزیاتوخلقوعقیده اوایمان نه وو.الله تعالی هغوی ته صحیح لارنه ښائی دچامقصدچه په الله تعالی باندې غلط الزام لږول وی اود چاپه زړونوکښی چه دالله تعالی د ایتونواودهغه دنخواودهغه دلیلونوباره کښی کفروی.بیاالله تعالی ددغه خلقودعقیدې نه انکار اوکړو څوك ئې چه دالله تعالی اولادګنړلی دی.لکه دمکې مشرکانوبه وئیل چه فرښتې دالله تعالی لونړه دی.

دمشرکانو پشان د دیهودیانو او نصرانیانو عقیده: یهودوائی چه عزیزدالله تعالی خوې دې. د عیسایانو خیال دې چه عیسی علیه السلام دالله تعالی خوې دې. نوارنې فرمانیل چه څنګه دهغوی خیال دې که داسې وې نو ددې حکم خلاف به وو.نودلته شرط نه دکیدودپاره دې اونه دامکان دپاره.بلکه دمحال دپاره دې او مقصدصرف دهغه خلقوجهالت بیانول دی.څنګه چه ئې فرمائیلی دی ﴿لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفَىٰ﴾ که مونږ دې بې هوده خبروارادە لره نودخپل خان نه به موکړې وې،اوکه مونږکولووالاوو،اوپه ایت کښی دی، ﴿قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ ۖ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ﴾ یعنی ورته اووایه چه که درحمن اولادووتومابه دتولونه مخکښی منل.نوداټول ایتونه دشرط دمحال دپاره دی دامکان یاکیدلودپاره نه دی.بلکه مطلب ئې نه داکیدیشی اونه هغه.الله تعالی ددې تولو خبرونه صفادې.هغه یوکس،صمداویواخې دې.هریوځیزدهغه ماتحت، فرمانبردار، عاجزاو محتاج ، فقیربې کس اوبې بس دې.هغه دهریوځیزنه غنی دې.دهرڅه نه بې پرواه،په تولوباندې دهغه حکومت اوغلبه ده.دظالمانوددې عقیدواودجاهلانوددې خبرونه هغه پاك اوصفادې.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيْلَ

| هغه پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | په حقه | نغاړی شپه

|هغه (الله) آسمانونه اوزمکه په یو مقصد سره پیدا کړی دی| هغه شپه په ورځ باندې

عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ

په ورځ باندې| او نغاړی ورځ | په شپه باندې| او تابع کړی دی هغه | نمر اوسپوږمئ|

رانغاړی | او ورځ په شپه باندې رانغاړی| او نمر اوسپوږئ (ستاسو دپاره) تابع کړی دی۔

كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝

هر یو | روان دی (گرزی) | دوخت مقرر پورې | واورئ | هم هغه | غالب دی | ببنونکې دی

هر یو تریومقررې نیټې پورې روان دی | یادساته چې هغه غالب دی | ډیر ببنونکې دی

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا

هغه پیدا کړئ تاسو | دنفس (بدن) یو نه | بیا ئې جوړه کړه | ددغه بدن نه | جوړئ دهغه |

هغه تاسودیوکس (سړی) نه پیدا کړئ | بیائې هم د هغه نه دهغه جوړه (بی بی حوا) پیدا کړه

وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ يَخْلُقُكُمْ

او نازل ئې کړل | ستاسو دپاره | دځاروؤ نه | اته نر ښځې | هغه پیدا کوی تاسو |

اوستاسودپاره ئې په څاروؤ کښې اته جوړې پیدا کړې دی| هغه تاسو د میاندو په

فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ

په خیټو دمیندو ستاسو کښې | په یو پیداوښت کښې | روستو دپیداوښت نه | په تیرو دریو کښې |

خیټو کښې پیدا کوی | اودا پیدائش په مختلفو مرحلو کښې په دریو تیاور کښې دننه کیږی

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

دا ستاسو الله دی | رب ستاسو | هغه لره بادشاهی ده | نشته لائق دعبادت | مګر هم هغه دی

همدا الله ﷻ ستاسورب دی | بادشاهی هم د هغه ده | .....د هغه نه سوا بل لائق د عبادت نشته

فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝

پس کوم خواته | تاسو روان کړې شوی یئ |

نوبیاتاسو (دحق نه) کوم خوا اړولې شئ

قوله تعالی:: خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ

دالله تعالی قدرتونه: هریوځیزخالق،دټولومالك،دټولوحکمران اوپه هرچاباندې قبضه لرونکې الله تعالی دی.شپه ورځ دهغه په لاس کښې دی.دهغه دحکم په وجه باندې شپه اوورځ دیوبل پسې مسلسل روان دی هغه مخکښې تلې شی اونه روستو.نمراوسپوږمئ هغه تابع کړی دی،هغوی خپلې دورې پوره کوی ،د قیامت پورې به په دې نظام کښې څه فرق رانشی.هغه دعزت اوعظمت والاأورفعت والادې دګناهګارانو بخښونکې اوپه ګناه ګارومهربانه دی.تاسوټول هغه دیوکس یعنی ادم علیه السلام نه پیدا کړی ئې

Scanned with Ca

بیا اوګورئ چه تاسو دیوبل نه څومره بدل یئ.رنګ،شکل،اواز،خبرې،ژبه اواندازتول بدل بدل دی. د حضرت ادم علیه السلام نه دهغه بی بی حواهم پیداکړه.
څنګه چه بل خائې کښی دی چه ائې خلقوادالله تعالی نه ویریږئ هغه دستاسورب دی.چه هغه تاسودیونفس نه پیداکړې اوهم دهغه نه ئې دهغه ښځه پیداکړه.بیائې ډیرسړی اوښځې پیداکړې.هغه ستاسودپاره اته نراوښځې څناورپیداکړل.چه دهغوی بیان دسوره مانده په ﴿ مِّنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ ﴾ کښی دې.یعنی ګډ،چیلې،غوا، اوښ.هغه تاسودستاسو میاندوپه خیټوکښی پیداکړی،کوم خائې چه ستاسو پیدائش کیږی.
اول نطفه،بیاوینه،بیاغوښه،هډوکی،رګونه،متې،بیاروح.غوراوکړئ چه هغه څومره ښه خالق دې.په دریې تیروکښی دستاسودپیدائش دتبدیلیانې کیږی.درحم تیاره،په هغې باندې دپوستکی تیاره او د خیټې تیاره.(۱)اوهغه چه دازمکه اواسمان اوپخپله تاسواوستاسو مشران اوکشران پیداکړی دی.هغه دتولورب دې.دهغه اختیاردې،هغه په تولوکښی اعلی دې،هغه دعبادت لائق دی،دهغه نه سواڅوک دعبادت لائق نشته.افسوس!چه دستاسوسوچ اوعقل څه شوچه تاسودهغه نه سوادبل چاعبادت کوئ.

					اِنْ تَكْفُرُوْا	فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ
					اِکه تاسو کفر اوکړئ	پس بیشکه الله بې پروا دی
					که چرې تاسو ناشکری کوئی	نو(یادساتئ) چې الله ﷻ
عَنْكُمْ وقف	وَلَا يَرْضٰى	لِعِبَادِهِ	الْكُفْرَ ۚ	وَاِنْ تَشْكُرُوْا		
ستاسو نه	اونهٔ خوښوی	دپاره دبندګانو خپلو	کفر	او که تاسو شکر اوکړئ		
ستاسونه بې پرواه دې	اوهغه خپلو بندګانو دپاره کفر نه خوښوی	اوکه تاسو شکراوباسئ				
يَرْضَهُ	لَكُمْ ؕ	وَلَا تَزِرُ	وَازِرَةٌ	وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ		
نو خوښوی هغه دا	ستاسو دپاره	اونهٔ باروی	یو بارونکې	بار دبل چا		
نوهغه ئې ستاسو دپاره خوښوی	(اوواورئی) هیڅوک بوج اوچتونکې به دبل بوج اوچت نکړې سی					
ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ	مَّرْجِعُكُمْ	فَيُنَبِّئُكُمْ	بِمَا			
بیا رب ستاسو	واپس ورتلل دی ستاسو	پس خبر به درکړی تاسو ته	په هغه څه			
بیا به تاسو خپل رب ته واپس کیږئ	نو هغه به تاسو ته ستاسو د ټولو عملونو					
كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ ؕ	اِنَّهٗ	عَلِيْمٌ	بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝	وَاِذَا	
چې وئ تاسو	چې کول به مو	بیشکه هغه	عالم دې	په خبرو دسینو باندې	او کله چې	
خبر درکړی	..... هغه ته د زړونو پټ رازونه ښه معلوم دی				.....او کله چې	
مَسَّ الْاِنْسَانَ	ضُرٌّ	دَعَا	رَبَّهٗ	مُنِيْبًا	اِلَيْهِ	
اورسیږی انسان ته	تکلیف (سختی)	نو رابلی	رب خپل	حال دا چې رجوع کونکې وی	هغه ته	
انسان ته څهٔ تکلیف اورسیږی	نو د خپل رب نه سوال کوی	..... اوهغه ته رجوع کوی				

(۱) الطبری: ۲۱/۲۵۸.

ثُمَّ إِذَا	خَوَّلَهُ	نِعْمَةً	مِّنْهُ	نَسِيَ	مَا	كَانَ
پیا چې کله	ورکړي هغه ته	نعمت	دطرفه خپل نه	نو هیره کړي	هغه سختي	چې وؤ دې
بیاچې هغه ورته دخپل طرفنه څه نعمت ورکړي	نو هغه د مصیبت حالت هیرکړي	دکوم دپاره چې				
يَدْعُوٓا	إِلَيْهِ	مِن قَبْلُ	وَجَعَلَ	لِلَّهِ	أَندَادًا	
چې رابلو ئې الله	هغې ته	مخکښې ددې نه	او جوړوی	الله لره	شریکان	
ئې وړاندې الله نه سوال کولو	اوالله ﷻ سره شریکان جوړول شروع کړي	نتیجه ئې دا شی چې نور				
لِّيُضِلَّ	عَن سَبِيلِهِۦ ۖ	قُلْ	تَمَتَّعْ	بِكُفْرِكَ		
دپاره ددې چې بې لارې کړي خلق	دلارې دهغه نه	ورته اووایه	چې نفع واخله	په کفر خپل		
خلق دهغه دلارې نه ګمراه کړي	ته ورته اووایه چې دخپل کفرنه یو څو ورځې فائده اوچته کړه					
قَلِيلًا ۖ	إِنَّكَ	مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ﴿٨﴾				
لږه	بیشکه ته	دملګرو دوور نه ئې				

قوله تعالی:: إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ

الله ﷻ بې احتیاجه او مخلوق محتاج دې::: فرمائی چه ټول مخلوق الله تعالی ته محتاج دې،اوالله تعالی دټولونه بې نیازه دې.دحضرت موسی علیه السلام فرمان دې په قران کریم کښې نقل شوې دې که تاسواوپه زمکه باندې ټول ساه لرونکی دالله تعالی نه کفراختیار کړی، نوالله تعالی ته څه نقصان نشی ورکولې هغه دټول مخلوق نه بې نیازه اوبې پرواه دې اودتعریفونو والا دې. دصحیح مسلم حدیث کښې دی چه"اې زما بندګانو! که تاسومخکښې روستوانسانان اوپیریان ټول دیوخراب انسان زړه شئ،نوزمابه بادشاهت کښې څه فرق نه راځی.(۱)اوالله تعالی دستاسوپه ناشکرئ باندې خوشحاله نه دې اوهغه تاسوته ددې حکم درکوی که تاسودهغه شکراداکوئ نوهغه به په دې باندې ستاسونه راضی شی اوتاسوته به خپل نورنعمتونه درکړی.هریوکس ته به هغه ملاویږی څه چه هغه کړی وی،دیوپه بدل کښې به بل نه نیولې کیږی اودالله تعالی نه یوځیزهم نه دې پټ.انسان ته اوګورئ چه دخپل حاجت په وخت کښې خوالله تعالی ته په ډیرې عاجزې سره اوازکوی اوهغه ته فریادکوی.څنګه چه په بل ایت کښې دی.﴿ وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ﴾ یعنی چه کله په دریاب اوسمندرکښې وی اوهلته په هغوی باندې څه افت راشی نوچه چاچاته دالله تعالی نه علاوه اوازکوی هغوی ترې ټول هیرشی اوصرف الله تعالی ته اوازونه شروع کړی.خودخلاصی موندلوسره مخ واړوی.انسان ناشکره دې! نو فرمانی چه کله ترې مصیبت لاړشی نوداسې شی چه لکه هغه دمصیبت په وخت کښې ورته اوازنه دې کړې. اودادعااوزاری بالکل هیره کړی.څنګه چه په ایت کښې دی.﴿ فَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ﴾

قوله تعالی:: وَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ

دانسان د ناشکرئ بیان:: یعنی دتکلیف په وخت کښې خوانسان په ناسته،ولاړه،اوملاسته باندې دزړه د اخلاص نه الله تعالی یادوی.خودهغه تکلیف لرې کیدوسره هغه زمونږنه لرې شی لکه چه هغه ددرد او تکلیف په وخت کښې هډوبالکل مونږته اوازنه وی کړې.بلکه دسکون په وخت کښې دالله تعالی سره شریك جوړوی. نوالله تعالی فرمائی چه داسې خلق به دخپل کفرنه لږه شان فائده واخلی.په دې کښې

---

(۱) صحيح مسلم كتاب البر والصلة باب تحريم الظلم: ۲۵۷۷.

Scanned with Ca

وینا اوسختی ده. څنګه چه فرمائیلی دی. ﴿ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ﴾ ورته اووایه چه فائده حاصل کړئ،اخری خائې خودستاسودوزخ دې.اوفرمان دې. ﴿ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴾ مونږیه هغوی ته څه لږه شان فائده ورکړواوبیابه هغوی دسخت عذابونودپاره بې بسه کړو.

					أَمَّنْ	هُوَ قَانِتٌ
					آیا هغه څوک	چې هغه حکم منونکې دې
					آیا د اسې سړې غوره دې،یا هغه چې دشپې په وختونو کښې په	
آنَاءَ اللَّيْلِ	سَاجِدًا	وَقَائِمًا	يَحْذَرُ الْآخِرَةَ	وَيَرْجُو		
په وختونو دشپې کښې	سجده کونکې	او ودریدونکې	چې یریږی دآخرت نه	او امید لری		
سجده پروت اوپه قیام ولاړ وی	.....		دآخرت نه ویریږی	اودخپل رب د		
رَحْمَةَ	رَبِّهِ ط	قُلْ	هَلْ يَسْتَوِي	الَّذِينَ	يَعْلَمُونَ	وَالَّذِينَ
درحمت درب خپل	ورته اووایه	آیا برابر کیدې شی	هغه کسان	چې پوهیږی	او هغه کسان	
رحمت امیدساتی	نو ته اووایه چې آیا پوهه اوناپوهه خلق برابریدې شی			اونصیحت خو بس		
لَا يَعْلَمُونَ ط	إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ	أُولُو الْأَلْبَابِ ع				
چې نه پزهیږی	بیشکه چې نصیحت قبلوئ	خاوندان دعقلونو				
عقل مند خلق قبلوی						

قوله تعالی:: أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا

دعلم والااوبې علمه برابرنه دی: مطلب داچه دچاحالت داوی هغه دمشرك برابرنه دې،څنګه چه فرمان دې.((لَيْسُوا سَوَاءً)) یعنی تول برابرنه دی.په اهل کتاب کښې هغه خلق هم دی چه هغوی دشپې دقیام په حالت کښې دالله تعالی دکلام تلاوت کوی.اوسجدوکښې پراته وی.دقنوت نه دلته مرادپه مونځ کښې خشوع اوخضوع ده صرف قیام مطلب نه دې.ابن مسعودؓ نه دقانت معنی مطیع اوفرمانبردار روایت ده.دابن عباسؓ وغیره نه روایت دی چه ((آنَاءَ اللَّيْلِ)) نه مرادنیمه شپه ده.منصورؒ فرمائی ددې نه مراددمابنام اوماسخوتن په مینځ کښې وخت دې.قتادهؒ وغیره فرمائی اول مینځنې اواخری شپه مراددهٔ.داعبادت کونکی خلق یوطرف ته د ویرې نه په لرزان دی،بل طرف ته امیدواراوطمع لرونکی دی.په نیك خلقوباندې په ژوندکښې دالله تعالی ویره غالبه وی اودمرګ په وخت کښې په ویرې باندې امیدغالب شی.رسول اللهﷺ یوکس ته دمرګ په وخت کښې ځی اوتپوس تری کوی چه ته خپل خان په څه حالت کښې وینې؟هغه عرض اوکړو د ویرې اوامیدپه حالت کښې.حضورﷺ اوفرمائیل دکوم کس په زړه کښې داسې حالت کښې دادواړه یوځائې شی نوالله تعالی دهغه امیدپوره کړی اودهغه دویرې نه هغه خلاص کړی([1]).(ترمذی ابن ماجه وغیره)

ابن عمرؓ ددې ایت تلاوت اوکړواوتې فرمائیل داصفت خویه (حضرت)عثمانؓ کښې وو،هغوی په اکثردشپې تهجدکول اوپه هغې کښې به تې دقران کریم لوی لوی سورتونه وئیل تردې چه کله کله به تې په یورکعت کښې تول قران ختم کړو،څنګه چه دابوعبیدهؒ نه روایت دی.شاعروائی،چه دسحرپه

[1]) ترمذی کتاب الجنائز باب الرجاء بالله والخوف بالذنب عند الموت: ۹۸۳.

Scanned with Ca

وخت کښې به دهغوی خوله دنورپه وجه باندې پرقیده ځکه چه هغوی به په تسبیح اودقران په تلاون کښې ټوله شپه تیره کړې وه.نسائی وغیره کښې حدیث کښې دی چه چایوه شپه کښې سل ایتونه اولوستل،دهغه په عمل نامه کښې به دټولې شپې قنوت اولیکلی شی(۱). (مسندوغیره) نوداسې خلق اومشرکان ځوک چه دالله تعالی سره خلق شریك کوی په هیڅ حالت کښې یوشان نشی کیدې.دعالم اوبې علمه درجه یوشان نشی کیدې.په هریوعقل لرونکی باندې ددوی فرق ظاهردې.

قُلْ	يٰعِبَادِ					
ورته اووایه	اے بندګانو زما					
اووایه چې ائې مومنانو						
الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا	رَبَّكُمْ ؕ	لِلَّذِيْنَ	اَحْسَنُوا	
هغه	چې ایمان مو راوړې دې	او یریږئ	درب خپل نه	دپاره دهغه کسانو	چې نیك عمل کوی	
بندګانو	دخپل رب نه ویریږئ	ځوک چې په دې دنیا کښې نیکی اوکړی		هغوی دپاره نیکه		
فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا	حَسَنَةٌ ؕ	وَاَرْضُ اللّٰهِ	وَاسِعَةٌ ؕ	اِنَّمَا	يُوَفَّى	
په دې دنیا کښې	نیکی ده	او زمکه دالله	فراښه ده	بیشکه	چې پوره به ورکیدې شی	
بدله مقرر ده	.....	اود الله ﷻ زمکه فراخه ده	.....	(یاد ساتئ) کوم خلق		
الصّٰبِرُوْنَ	اَجْرَهُمْ	بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝	قُلْ	اِنِّيْٓ اُمِرْتُ		
صبر ناکو خلقو ته	اجر دهغوئ	بې حسابه	ورته اووایه	بیشکه حکم شوې دې ماته		
چې صبر کړی	هغوئ دپاره بې حسابه اجر اوثواب مقرردې	.....	ته اووایه چې ماته د الله			
اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ	مُخْلِصًا	لَّهُ الدِّيْنَ ۝	وَاُمِرْتُ			
چې بندګی اوکړم دالله	چې خالص کونکې یم زهٔ	هغه لره ددین	او حکم شوې دې ماته			
دعبادت حکم شوې دې	اوعبادت صرف د هغه کوم	.....	اوماته دا حکم (هم) شوې دې			
لِاَنْ اَكُوْنَ	اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝	قُلْ	اِنِّيْٓ	اَخَافُ	اِنْ عَصَيْتُ	
چې شم زهٔ	اول دمسلمانانو نه	ورته اووایه	بیشکه زهٔ	یریږم	که نافرمانئ اوکړم	
چې په مسلمانانو کښې دې اول(نمبر) مسلمان یم	ته اووایه که زه دخپل رب نافرمانی اوکړم					
رَبِّيْ	عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝	قُلِ اللّٰهَ	اَعْبُدُ	مُخْلِصًا		
درب خپل	دعذاب دورځې لوئې نه	اووایه	چې الله لره به	بندګی کوم زهٔ	خالص کونکې	
نودقیامت دلوئې ورځې دعذاب نه ویریږم	ته اووایه چې زه خو دالله ﷻ عبادت په داسې					
لَّهٗ	دِيْنِيْ ۝	فَاعْبُدُوْا	مَا	شِئْتُمْ	مِّنْ دُوْنِهٖ ؕ	قُلْ
هغه لره	ددین زما	پس بندګی کوئ تاسو	دهغې	چې غواړئ تاسو	بې دهغه نه	ورته اووایه
طریقه کوم	.....	چې خپل عبادت خالص دهغه په نوم ساتم	نوتاسو دهغه نه سوا	چې ځوک مو		

(۱) احمد: ۱۰۳/٤. وسنده ضعیف وللحدیث شاهد عند ابی داود: ۱۳۹۸. وسنده حدیث.

Scanned with Ca

اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ	الَّذِيْنَ	خَسِرُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	وَاَهْلِيْهِمْ
بیشکه تاوانیان خلق|هغه خلق دي اچی په تاوان کښی نې واچول	خانونه خپل	او اهل وعیال خپل		
خوښ وی دهغه عبادت کوئی	اووایه چې تاوانیان هغه کسان دی اچې خپل ځانونه او خپله خیلخانه ئې			
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ	اَلَا	ذٰلِكَ	هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝	لَهُمْ
په ورځ دقیامت	خبردار (واورئ)	هم دا	تاوان ښکاره دي	وی به دهغوئ دپاره
دقیامت په ورځ تاوانی کړی دی	یاد ساته ! چې هم دغه ښکاره تاوان دي		.....په هغوئ باندې به	
مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ	مِّنَ النَّارِ	وَمِنْ تَحْتِهِمْ	ظُلَلٌ ؕ	ذٰلِكَ
دپاسه دهغوئ نه	چترونه	دوور نه	او لاند دهغوئ نه	چترونه	دا هغه انجام دي
د پورته نه هم د اور شغلي وی	اودلاندې نه به هم د اور شغلي وی		.....دا هغه	
يُخَوِّفُ اللّٰهُ	بِهٖ	عِبَادَهٗ ؕ	يٰعِبَادِ	فَاتَّقُوْنِ ۝
چې یروی الله	په دې سره	بندګان خپل	اے بندګانو زما	پس اویریږئ زما نه	
خبرې دی	چې الله ﷻ پرې خپل بندګان ویروی	نو ائې زما بندګانو زما نه اویریږئ		

قوله تعالی:: اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝

د صبر اجر به بې حسابه وی: الله تعالی خپل ایمانداربندګانوته دخپل رب په بندګئ باندې قایم اوسیدو او په هرکارکښی دهغه دپاك ذات خیال ساتلوحکم ورکوی چه چاپه دې دنیاکښی نیکی اوکړه، هغه ته به دې دنیاکښی اوراتلونکی اخرت کښی نیکیانې ملاویږی.که تاسوپه یوخانې کښی دالله تعالی عبادت په ښه طریقې سره اونه کړې شې نوبل خانې ته لارښئ،دالله تعالی زمکه ډیره زیاته ده. د مصیبت نه تختئ،شرك مه منئ.صبرکونکوته بې ناپ اوتوله اوبې حسابه اجرملاویږی،جنت هم دهغوی خانې دي اوماته دصرف دالله تعالی دعبادت کولوحکم شوې دې،اوماته داهم فرمانیلی شوی دی چه د خپل ټول امت نه مخکښی اول زه پخپله مسلمان شم اوخپل ځان دخپل رب فرمانبردارکړم اودهغه په حکمونو باندې عمل اوکړم.

قوله تعالی:: قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۝

د الله ﷻ د وحدانیت اعلان او د شرك نه بیزاری ؟ حکم کیږی چه په خلقوکښی اعلان اوکړه چه ددې سره چه زه دالله تعالی رسول یم، خو د الله تعالی دعذاب نه بې خوف نه یم،که زه دخپل رب نافرمانی کوم نودقیامت په ورځ به زه هم دعذاب نه بچ نه شم.نونوروخلقوته دالله تعالی دنافرمانئ نه ډیرزیات خپل ځان ساتل پکاردی.ته دخپل دین اعلان هم اوکړه چه زه دپوخ اویووالی والا مؤحد یم.تاسوچه دچاغواړئ عبادت کوئ،په دې کښی هم وینا ده اجازت نه دي.په پوره نقصان کښی دی هغوی چاچه خپل ځان اوخپلوان په نقصان کښی ګیر کړو.دقیامت په ورځ به هغوی کښی جدائی وی.
یعنی ددوئ رشته داران جنت ته لاړل نودوی به په دوزخ کښی سوزی،اودهغوی نه به جداوی اوکه ټول دوزخ ته لاړل نوهلته به دبدوپه وجه باندې دیوبل نه جداوی اوپریشانه اوغمژن به وی.اوبیاچه به دوزخ کښی دهغوی کوم حال وی دهغې بیان دی چه لاندې بره به ټول یوشان اوروی.
څنګه چه فرمانیلی دی.﴿لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝﴾ یعنی دهغوی جامې اوسامان هرڅه به ددوزخ اوروی.دظالمانو دغه بدله ده. ((يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ))

دقیامت په ورځ باندې به دوی ته دلاندې بره نه عذاب ورکړې کیږی اوورته به وئیلې کیږی چه دخپل عملونومزه واخلئ.داپه دې وجه باندې ښکاره اوظاهرکړې شوه چه ددې ربښتونې عذاب نه کوم چه ضرورراروان دې زمابندیان تړې خبرشی اوګناهونه اونافرمانئ پریدی.زمابندیانوزماد نیولو اوزما عذاب اوغضب اوانتقام اوحساب نه اوویریږئ.

وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا	الطَّاغُوْتَ	اَنْ يَّعْبُدُوْهَا	وَاَنَابُوْٓا	اِلَى اللّٰهِ
او هغه کسان چې ځان اوساتو	دطاغوت (بتانو)نه	چې عبادت اوکړی	دهغې	او رجوع ئې اوکړه الله ته
اوڅوک چې دشیطان عبادت نه ځان بچ ساتی		او الله ﷻ ته رجوع کوی		هغوئ د زیری لائق دی
لَهُمُ	الْبُشْرٰى ۚ	فَبَشِّرْ	عِبَادِ ۙ	الَّذِيْنَ	يَسْتَمِعُوْنَ
دپاره دهغوئ دي	زیری	پس زیرې ورکړه	زما بندګانونه	هغه بندګانو ته	چې اوری
نو زما بندګانو ته زیرې ورکړه					اوڅوک چې خبرې ته غوږ ایږدی
الْقَوْلَ	فَيَتَّبِعُوْنَ	اَحْسَنَهٗ ؕ	اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ	هَدٰىهُمُ اللّٰهُ
خبره	ایبا پیروی کوی	دښه ارخ دهغې	دا هغه خلق دی	چې هدایت کړې دې دوئ ته الله
خبرو عمل کوی				هم دغه کسان دی چې الله ﷻ ورته هدایت کړې دې
وَاُولٰٓئِكَ	هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝			
او هم دا کسان	خاوندان دعقلونو دی	آي		
اوهم دغه کسان دعقل خاوندان دی				

قوله تعالی:: وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ

د ایت مبارک شان نزول خاص دی او حکم یې عام دې: روایت دی چه دایت دزیدبن عمروبن نفیل او ابو ذرسلمان فارسی رضی الله عنهم باره کښی نازل شوې دې.(۱)خوصحیح داده چه دایت څنګه دهغه بزرګانو دپاره دې دغه شان داټولوخلقودپاره دې،چه په هغوی کښی داپاک صفتونه وی،یعنی دالله تعالی نه علاوه دټولونه بیزاره وی اودالله تعالی فرمانبرداری کوی.داهغه دی چه دهغوی دپاره ددواړو جهانونو خوشحالي دی.خبره واوری خان پوه کړی.که هغه ښه وی نوپه هغې باندې عمل کولو والا د مبارکئ لائق دی.الله تعالی خپل کلیم پیغمبرحضرت موسی علیه السلام ته تورات ورکولووخت کښی فرمانیلی وو، دا کښی دښه خبروقبلولوجذبه ضروروی.

اَفَمَنْ	حَقَّ	
ایا نو (بچ کولې شی څوک) هغه سړې	چې ثابته شوی وی	
ایا د چا په حق کښې چې دعذاب فیصله شوې		
عَلَيْهِ	كَلِمَةُ الْعَذَابِ ؕ	اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ	مَنْ	فِي النَّارِ ۝
په هغه باندې	خبره دعذاب	ایا نو ته بچ کولې شې	هغه څوک	چې غورزیدلې وی په وور کښی
وی (نو هغه دوزخیان دی)		نو ایا ته دوزخیان دعذاب نه خلاصولې شې ؟		

(۱) الطبری :۲۱/۲۷۳.

لٰكِنِ الَّذِيْنَ	اتَّقَوْا	رَبَّهُمْ	لَهُمْ	غُرَفٌ	مِّنْ فَوْقِهَا
البته هغه کسان	چې اویریدل	درب خپل نه	دی دپاره دهغوئ	مانړئ	چې دپاسه دهغې به
البته څوک چې د خپل رب نه ویریږی	هغوئ دپاره بالاخانې تیارې دی			چې دهغې نه پورته	
غُرَفٌ	مَّبْنِيَّةٌ ۙ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ ؕ	وَعْدَ اللّٰهِ ؕ
نورې مانړئ وی	جوړې کړې شوی	چې بهیږی به	لاند دهغې نه	نهرونه	دا وعده ده دالله
نورې بالاخانې تیارې دی	چې لاندې ترې نه ولې بهیږی	.....			دا دالله ﷻ وعده ده
لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ	الْمِيْعَادَ ۝				
خلاف نۀ کوی الله	دوعدې				
الله ﷻ هیڅرې د وعدې خلاف نه کوی					

قوله تعالی:: اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ؕ

نبی ﷺ هم کافران د جهنم نه نشی خلاصولې : فرمائی چه دچابدبختی لیکلې شوې ده ته هغه ته صحیح لارنه شې خودلې.څوك دی چه هغه دالله تعالی ګمراه کړې کس په صحیح لارباندې روان کړی.ستانه دانشی ګیدې چه ته هغوی ته صحیح لاراوښائې اوهغوی دالله تعالی دعذاب نه بچ کړې.اونیك بخته،اونیکې عقیدې والاخلق به د قیامت په ورځ دجنت په محلونوکښی مزې کوی.په هغه محلونوکښی چه هغه څوڅومنزله دی،دارام ټول سامان به پکښی موجودوی.دااوچت اوغټ،خانسته اومزیداردی.حضورﷺ فرمائی،په جنت کښی داسې محلونه دی چه دهغې دننۀ حصه دبهراوبهرنۀ حصه ددننه نه صفابنکاری.یواعرابی تپوس اوکړویارسول اللهﷺ!دادکوموخلقودپاره دی؟اوئې فرمائیل دهغه خلقودپاره کوم چه په نرمې سره خبرې کوی ،په خلقوخوراك کوی،اودشپې چه کله خلق په خانسته خوب اوده وی نودوی دالله تعالی مخکښی اودریږی اواوژاړی،اومونځونه اوکړی (۱).(ترمذی وغیره)

مسنداحمدکښی درسول اللهﷺ فرمان دې په جنت کښی داسې محلونه دی چه دهغې دننه دبهرنه او بهر د دننه نه صفا بنکاری،هغه الله تعالی دداسې خلقودپاره جوړکړی دی چه هغوی په خلقوباندې خوراك کوی، خبرې په نرمې سره کوی،نفلی روژې زیاتې نیسی اوشپې په اخری حصه کښی تهجدکوی.(۲)

مسندپه یوبل حدیث کښی دی چه جنتیان به دجنت محلونوته داسې ګوری څنګه چه تاسوداسمان ستوروته ګورې،اوروایت کښی دی دمشرقی اومغربی طرفونوستوری،چه څنګه تاسوته بنکاری،دغه شان به درته دجنت هغه محلونه هم بنکاری(۳).اوپه حدیث کښی دی دمحلونودغه تعریفونه اوریدلو سره خلقواوونیل،حضورﷺ داخوبه دنبیانودپاره وی؟حضورﷺ اوفرمائیل ،اود نورو خلقو دپاره هم چاچه په الله تعالی باندې ایمان راوړواورسولان نې ریښتیااوګنړل (۴).(ترمذی وغیره)

مسنداحمدکښی دی چه رسول اللهﷺ ته صحابه ؓ عرض اوکړوچه یارسول اللهﷺ!دکوم وخت پورې چه مونږدستاسوپه خدمت کښی حاضریواودستاسونورانی مخ ته ګورو،هغه وخت پورې زمونږزړونه نرم

---

(۱) ترمذی کتاب صفة الجنة باب ماجاء فی صفة غرف الجنة:۲۵۲۷. وهو حسن.

(۲) احمد:۳۴۳/۵. وهو حدیث حسن .

(۳) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار:۶۵۵۵، صحیح مسلم: ۲۸۳۰.

(۴) ترمذی کتاب صفة الجنة باب فی ترائی اهل الجنة فی الغرف: ۲۵۵۶. وسنده حسن.

Scanned with Ca

وی اومونږداخرت طرف ته متوجه یوخوچه کله دستاسودمجلس نه پاځواوددنیاپه کاروبارکښی مشغول شواوپه بچو اوکورواوالاکښی مشغول شونوهغه وخت زمونږدغه حالت نه وی.نوحضورﷺ اوفرمائیل چه تاسوهروخت په هغه حالت کښی وئ کوم وخت چه تاسوزمامخکښی ئې نوفربښتې به تاسوسره خپل لاس ملاووی اوستاسوکورونوکښی به ئی دستاسوسره ملاقات کولی.واوریٔاکه تاسوګناهونه نه کوئ نو الله تعالی به داسې خلق راولی چه هغوی به ګناهونه کوی چه الله تعالی هغوی اوبخښی.مونږاووئیل حضورﷺ جنت جوړشوې دځه دځیزنه دې؟حضورﷺ اوفرمائیل یوه خښته دسروده اویوه د سپینو زرو. د هغې چونه خالص مشك دی دهغې کانړی لؤلؤاویاقوت دی.دهغې خاوره زعفران ده،چه هغې ته ځوك داخل شول هغه کامیاب شول،چه بیادبې ماله کیدوځه ویره نشته.هغه به همیشه په دې کښی اوسیږی دهغه ځائې نه دویستلوځه امکان نشته.دهغوی کپړې به شلیږی اوزړیږی نه ،دهغوی ځوانی به همیشه دپاره وی.واوریٔاددې کسانودعانه ردکیږی.انصاف کونکې بادشاه،روژې نیولو والا او مظلوم .ددوی دعاهروخت بره روانه وی اوددې دپاره داسمان دروازې کهلاؤکړې شی اوالله تعالی فرمانی،زمادې پخپل عزت باندې قسم چه زه به ضروردستامددکوم اګرکه څه وخت پس وی (۱).

ددې محلونوپه مینځ کښی چشمې بهیږی اوهغه هم داسې چه کوم ځائې ته غواړی اوبه اورسوی څومره چه غواړی هغه روانې کړی. داده دالله تعالی خپل مومن بندګانوسره وعده.یقیناالله تعالی دخپلې وعدې خلاف نه کوی.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ	
آیا نۀ ګورې تۀ چی بیشکه الله نازلې کړې دآسمان نه	
آیا تا دې خبرې ته نه دی کتلی چې الله ﷻ پورته نه	
مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ	
اوبۀ پس ننئیستلی ئې دا اوبه په چینو کښی په زمکه کښی بیا راوباسی په دې سره	
اوبه نازلې کړې بیا ئې د زمکې دپاسه په لارو کښې اوبیولې بیا ترې نه فصلونه پیدا	
زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا	
فصلونه چی مختلف وی رنګونه دهغې بیا وچ شی پس تۀ وینې هغه زیړ	
کوی چې د هغې رنګونه مختلف وی .....بیا هغه اوچ شی نو ته ئې تک زیړ وینې	
ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى	
بیا جوړوی هغه ذره ذره مات شوی بیشکه په دې کښی خامخا نصیحت دې	
بیا ئې تکړې تکړې کړی .....په دې کښې یقیناً د عقل مندو دپاره نصیحت	
لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۲۱﴾ اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ	
دپاره دعقلمندو خلقو ایا اوس هغه سړې چی پرانستله الله سینه دهغه دپاره داسلام او هغه	
پروت دې .....ایا الله ﷻ چې دچا سینه اسلام ته پرانستې ده نوهغه د خپل رب د طرفه	

(۱) ترمذی کتاب صفة الجنة باب ماجاء فی صفة الجنة ونعیمها:۲۵۲۶.

عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ	رَّبِّهٖ ؕ	فَوَيْلٌ	لِّلْقَاسِيَةِ
روان دې په نور باندې	دطرفه درب خپل نه	پس تباهی ده	دپاره دهغو چې سخت شو
په رښو کښې روان دې (هغه اوګمراهان برابر کیدیشی)	نود هغه خلقو دپاره هلاکت دې	د کومو	
قُلُوْبُهُمْ	مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ	اُولٰٓئِكَ	فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۲﴾
زړونه دهغوئ	په ذکر (نصیحت) دالله سره	دا کسان	په ګمراهئ ښکاره کښې پراته دی
زړونه چې دالله ﷻ دیاد نه اثر نه اخلی	.....دغه خلق په ښکاره ګمراهئ کښې پراته دی		

قوله تعالی:: اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

اوبه دالله تعالی د قدرت نخښه ده: په زمکه چه کومې اوبه دی په حقیقت کښې داداسمان نه راغلی دی.څنګه چه فرمان دې چه مونږداسمان نه اوبه ورووه.دااوبه زمکه اوڅکی اودننه پکښې خورې شی.اودحاجت مطابق دادسورې نه راوباسی اوچشمې شروع شی.کومې اوبه چه دزمکې دخراب والی په وجه باندې خرابې شی،هغه خرابې وی.دغه شان داسمان اوبه دواوړې په شکل په غرونوباندې جمع کیږی،هغه په غرونوکښې دننه ننوځی اوبیادهغې نه ابشارونه بهیږی. ددې چینو او دریابونو او به پټوته رسی چه په هغې باندې پټی شنه شی.چه دمختلف رنګونو،بویونومزواوخائسته شکل او صورت والاوی.بیاپه اخری وخت کښې دهغې ځوانی اوشین رنګ په زیړرنګ بدل شی.بیااوچ شی اوکټ کړې شی.نودعقل لرونکودپاره په دې کښې نصیحت نشته؟هغوی دانه ګوری چه هم دغه شان دنیاده چه نن ځوان اوخائسته ښکاری،صبابه بوډا اوبدرنګه وی.نن چه یوکس ځوان اوطاقتوردې صبابه هغه بوډابدشکله اوکمزورې وی،اوبیابه اخرمړشی.نوعقل لرونکی دې په انجام باندې نظراوساتی.ښه هغه دې چه دهغه انجام ښه وی.زیات ځایونوکښې ددنیادژوندمثال دباران په وجه باندې دشین شوی پټی سره ورکړې دی.څنګه چه په ﴿وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ کښې.

قوله تعالی:: اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ

بیافرمائی چه دچاسینه داسلام دپاره کهلاؤشوه اوچاچه دخپل رب نوراومونډلواودسختې سینې اوتنګ زړه والابرابرکیدیشی؟ په حق باندې قائم اودحق نه لرې یوشان کیدیشی؟څنګه چه فرمائیلی دی.﴿ اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا ﴾ هغه کس څوک چه مړووهغه مونږروښانه کړلواوهغه ته مونږرورکړو،چه هغه دخان سره په خلقوکښې ګرځوی.اوهغه چه تیاروکښې وواودهغې نه خلاصې ګران دې،دواړه برابر کیدیشی؟ نودلته ئې هم نتیجه بیان کړې ده چه دچازړونه دالله تعالی په ذکرباندې نه نرم کیږی،دالله تعالی حکمونه نه منی،دالله تعالی مخکښې عاجزی نه کوی،اوسخت زړه والاوی دهغوی دپاره ویل (هلاکت) دی، خرابی اوافسوس اوحسرت دې.دوی بالکل ګمراه دی.

اَللّٰهُ نَزَّلَ	اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ	كِتٰبًا	مُّتَشَابِهًا	
الله نازل کړې دې	دټولونه بهتر کلام	داسې کتاب	چه ټولې حصې ئې یو شان دی	
الله ﷻ ډیر ښکلې کتاب نازل کړې دې	داسې کتاب چې مضامین ئې یو بل سره			
مَّثَانِيَ ۖ	تَقْشَعِرُّ	مِنْهُ	جُلُوْدُ	الَّذِيْنَ	يَخْشَوْنَ
بار بار ذکر شوی دی	چې زړیږی	(داوریدو) ددې نه	څرمنې	دهغه کسانو	چې یریږی
سم برابردی	بیا بیا لوستلې شی	.....کوم کسان چې دخپل رب نه ویریږی نو د هغوی			

Scanned with Ca

رَبَّهُمْ ۚ	ثُمَّ تَلِيْنُ	جُلُوْدُهُمْ	وَقُلُوْبُهُمْ إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ
درب خپل نه	بیا نرمي شي	څرمني دهغوئ	او زړونه دهغوئ	یادولو دالله ته
زړونه تري ریږدی	نوبیا د هغوئ وجود ونه او زړونه دالله ﷻ یاد ته متوجه شي		
ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ	يَهْدِيْ	بِهٖ	مَنْ	يَّشَآءُ ؕ
دا هدایت دي دالله	لار ښائی	په دي سره	هغه چاته	چي غواړی ئي هغه
دادالله ﷻ هدایت دي	اود چا په حق کښي چي اوغواړی نو ددي په ذریعه ورته هدایت کوی			
وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ	هَادٍ ۝	
او هغه څوك چي بي لاري ئي کړی الله	پس نشته	هغه لره	څوك لاربنودونکي	
اوالله چي څوک بي لاري کړی	نو هغه ته هیڅوک لارخودونکي نشته			

قوله تعالی:: تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ

د مشابه او مثان تفسیر: الله تعالی دخپل قران کریم په تعریف کښی فرمائی چه دا بهترین کتاب هغه نازل کړي دي،چه هغه ټول یوشان دي اوددي ایتونه بیابیاراغلی دی چه په اسانه باندي په دي خلق پوهه شی.یوایت دبل ایت په شان دي اوحرف دبل حرف سره ملاویږی.ددي سورت ایتونه دبل سورت ایتونوسره یوشان دی،یوه خبره اویو ذکر څوځوخایونوکښی بي اختلافه شوي دي . بعضي ایتونه هم په یوبیان کښی. په بعضوکښی چه څه ذکردی دهغي الټه هم شته.لکه د مومنانو د ذکر سره دکافرانوذکر،دجنت سره ددوزخ ذکروغیره.اوګورئ دابرارذکرسره دفجارذکردي.دسجین سره دعلیین بیان دي.متقینوسره دطاغین ذکردي،دجنت ذکرسره ددوزخ ذکردي.یعنی دامعنی ده دمثانی .اویوشانوالي د ایتونوته وائي چه هغه دیوشان ذکرباره کښی مسلسل راروان دی.دلته دي لفظ چه کومه معنی ده هغه داده او ﴿وَأُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ﴾ کښی بله معنی ده.

دالله تعالی په ایتونوباندیې دمومنانو زړونه رپیږی ::ددي پاك او اثر کونکو ایتونو د مومنانو په زړوباندي نور پریوځی،دوی ددي اوریدلو سره ویریږی.د سزاګانو اودهمکیانو اوریدلوسره دهغوی سینې درزیږی. د هغوی ویخته اودریږی،اوپه عاجزي اوژړافریادسره الله تعالی ته ښکته شی. دهغه په رحمت اولطف باندي نظرکړی اوامیدساتی.نو دهغوی حال به دتورو زړونووالا نه بالکل جداوی دوی دالله تعالی کلام دنیکوسره اوری،هغوی په غزلوباندي سرونه خوزوی.داخلق په قرانی ایتونوباندي خپل ایمان نورهم مضبوطوی،خوچه دچاپه زړونوکښی بیماری ده هغوی دقران ایتونه اوریدلوسره نورهم کفرکښی مخکښی ځی.دوی په ژړاباندي سجدوکښی اوغورځیږی،اوهغوی په خنداګانوسره او په خان خودلوسره ګرځی.دقران فرمان دي. ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ إِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ﴾

یعنی دالله تعالی یاددمومنانوزړونه رپوی.هغوی په ایمان اوتوکل کښی مخکښی شی.د مونځ، زکوة، اوخیرات خیال ساتی،رښتوني اوایماندارغه دی.درجې،مغفرت اوښه رزق به هم دغه خلقوته ملاویږی.اوپه ایت کښی دی ﴿وَالَّذِيْنَ إِذَا ذُكِّرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوْا عَلَيْهَا صُمًّا وَّعُمْيَانًا ۝﴾ یعنی ښه خلق قران کریم دکنړواورندوپه شان نه لولئ چه ددي طرف ته خونه صحیح خیال کوی اونه ئي دعمل کولواراده وی،بلکه دوی ته غوږاوزړه ایخودلي وی،په غوراوفکرسره معنی مطلب باندي ځان پوهوی.دوی ته توفیق ملاوشی اوپه سجده کښی اوغورځیږی اودعمل کولودپاره تیار شی.دوی په خپل عقل باندي کارکونکی دی.نوروته کتلواوجهالت پسې ګرځیدلووالانه دی.دریم صفت د نورونه جداپه دوی کښی

Scanned with Ca

دادې چه دوی دقران اوریدووخت کښې په ادب سره ناست وی.دحضورﷺ تلاوت اوریدلوسره به دصحابه کرامؓ بدن اوروح دالله تعالی طرف ته ښکته شو،اوپه هغوی کښې به خشوع اوخضوع پیداشوه خودانه وه چه چغې به ئې وهلې اوځان به ئې خودلوبلکه په ارام سکون اوخشوع سره به ئې دالله تعالی کلام اوریدلو،اودزړه قراراوسکون به ئې حاصلولواودې وجه باندې دتعریف اوصفت قابل شول.رضی الله تعالی عنهم اجمعین.

د اولیاء الله صفات: عبدالرزاق نه روایت دې چه حضرت قتاده ؒ فرمانی داولیاء الله داصفت دې،چه قران اوریدوسره د هغوی زړونه موم شی اودالله تعالی دذکرطرف ته متوجه شی.دهغوی زړونه اوویریږی، دهغوی دسترګونه اوښکې بهیږی اوپه طبیعت کښې سکون پیداشی دانه وی چه عقل ئې خی.عجیبه شان حالت ئې شی.دنیک اوبدهوش ورته نه وی،داهاهوکول دبدعت کارونه دی اوټوپونه وهل اوخپلې کپړې شلول داشیطانی حرکتونه دی.دالله تعالی دذکرنه مراد وعده د الله تعالی هم بیان کړې شوې ده. بیا فرمائی چه دادی صفتونه دهغه خلقوچاته چه الله تعالی هدایت کړې دې.که ددې خلاف تاسوځوک وینئ نوپوهه شئ چه دوی ګمراه دی.اویقین اوساتئ چه الله تعالی کوموخلقوته هدایت ورکول نه غواړی هغوی څوک صحیح لارته نشی راوستلې.

أَفَمَنْ يَتَّقِي	بِوَجْهِهِ	سُوْٓءَ الْعَذَابِ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ	وَقِيْلَ
آیا پس هغه څوک چې بچ کوی ځا|په مخ خپل سره|دسخت عذاب نه |په ورځ دقیامت| اواوبه ونیلې شی				
آیا څوک چې دقیامت په ورځ دخپل مخ په ذریعه خان دسخت عذاب نه بچ کوی	او داسې ظالمانو ته			
لِلظّٰلِمِيْنَ	ذُوْقُوْا	مَا	كُنْتُمْ	تَكْسِبُوْنَ ۝	كَذَّبَ
ظالمانوته	اوڅکئ مزه	دهغه عمل	چې وئ تاسو	چې کولو به مو	دروغ ګنړلی وؤ
به حکم اوشی|چې دخپل عمل سزا اوڅکئ	.....د دوی نه وړاندې				
الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ	فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ	مِنْ حَيْثُ
هغه کسانو	چې مخکښې ددوئ نه ووؤ	پس راغې هغوئ ته عذاب	ددې طرفنه
هم خلقو(پیغمبران) دروغژن ګنړلی وو	نود هغه طرفه ورته ناګهانی عذاب راغلو	چې د هغوئ	
لَا يَشْعُرُوْنَ ۝	فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ	الْخِزْيَ	فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ
چې نه راتلو په خیال دهغوئ کښې	پس وراوڅکوله هغوئ ته الله	شرمندګی	په ژوند ددنیا کښې
پرې ګمان هم نه وو	.....نو الله تعالی په باندې ددې دنیا په ژوند کښې دذلت مزه اوڅکوله			
وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ	اَكْبَرُ	لَوْ كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ ۝
او خامخا عذاب داخرت	زیات سخت دې	کاش چې وې دوئ	چې پوهیدلې
اوداخرت عذاب خو ډیر لوئې دې	.....کاش که دوئ پوهیدلې		
وَلَقَدْ ضَرَبْنَا	لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ	مِنْ كُلِّ مَثَلٍ	لَّعَلَّهُمْ
او بیشکه بیان کړی دی مونږه	دپاره دخلقواپه دې قران کښې	هر قسم مثالونه	دپاره ددې چې دوئ	
اومونږ په دې قران کښې خلقو ته هرقسم ښه ښه مضمونونه بیان کړی دی	..... د دې دپاره چې			

Scanned with Ca

يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ

نصیحت قبول کړی | داسې قران | چې په عربئ ژبه کښې دې | چې نۀ دې خاوند دکوږ والی |
نصیحت تري واخلی | دا عربی قران دې | چې د ذرې هومره کږ لیچ په کښې نشته دې

لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا

دپاره ددې چې دوئ | خان اوساتی دخراب انجام نه | بیانوی الله | یو مثال | دیو سړی |
دې دپاره نازل شوې دې چې دوئ پرهیزګار جوړ شی | الله ﷻ یو مثال بیانوی چې یو سړی (غلام)

فِيهِ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ۚ

چې وی په هغې کښې | شریکان | تول بد خویه | او بل سړې وی | سالم دیو سړی (مالك) |
دې چې څو کسان په کښې شریک وی | اودیوبل سره ضد ساتی | او بل سړې دې | چې تول دیومالک مال دې

هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾

آیا برابریدې شی دا دواړه مثالونه | تولې ثناده الله لره | بلکه زیات ددوئ نه | نۀ پوهیږی |
آیا ددې دواړو حال برابریدې شی | تول تعریفونه الله دپاره دی | بلکه په دوئ کښې زیات خلق نه پوهیږی

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ

بیشکه تۀ هم | مړ کیدونکې ئې | او بیشکه دوئ هم | مړ کیدونکې دی | بیا به بیشکه تاسو |
بیشکه ته به هم مړې | .....اودوئ بۀ هم مړی | .....بیا به یقیناً تاسو تول دقیامت

يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾

په ورځ دقیامت | په نز درب ستاسو | جګړه کوی (مقدمه به پیش کړئ خپله خپله) |
په ورځ د الله ﷻ په دربار کښې جګړې کوئ |

قوله تعالی:: أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ

دمنکرانودپاره سخت عذاب: یوهغه چه هغه ته دهنګامویه ورځ باندې امان ملاوۀوی، اویوهغه چه هغه ته دعذاب سپیرې ملاویږی، برابرکیدیشی؟ څنګه چه فرمائیلی دی. ﴿أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِ أَهْدَىٰ﴾ پرمخې پرمخ باندې ګرځیدووالا، اوپه خپلوخپوباندې په صحیح لارباندې تلووالابرابرنشی کیدلې. دا کافران به دقیامت په ورځ باندې التې رابنکلی شی اورته به ونیلی کیږی چه داورمزه واخلئ. اوپه ایت کښې دی. ﴿أَفَمَن يُلْقَىٰ فِي النَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِي آمِنًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ﴾ دوزخ ته به داخل کیدو والا بدنصیبه بنده دې یاپه امن سره دقیامت ورځ تیرولووالابنده دې؟ دلته ددې ایت مطلب هم دا دې، خودیوقسم ذکرئې کړې دې اودبل قسم ذکرئې پریخودې دې. څکه چه په دې باندې هغوی هم پوهیږی. داخبره دشاعرانوپه کلام کښې هم موندلې کیږی. مخکښې خلقوهم دالله تعالی خبره نه وه منلې اورسولانوته ئې دروغژن ونیلی وو. بیااوګورئ په هغوی باندې په خپله بې خبرې کښې څنګه عذابونه راغلل. دالله تعالی عذاب هغوی په دنیاکښې ذلیل اوخوارکړل اوداخرت سخت عذاب دهغوی دپاره پاتې دې. نوتاسوته ویریدل پکاردی چه شریف رسول چیرلو اونه منلوپه وجه باندې به په تاسوباندې دهغوی نه هم زیات عذاب راشی. که تاسوعلم لرونکی ئې نودهغوی دحالاتوذکراونصیحت ستاسو دپاره کافی دې.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ
قران کښې مثالونه په مثالونوباندې خبره په اسانه سره په پوهه کښې راځی په دې وجه باندې قران مجید کښې هرقسمه مثال ورکړې شوې دې چه خلقوته ښه یادشی.نوارشادشوې دې﴿ ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ﴾ الله تعالی دستاسودپاره هغه مثالونه ارشادفرمانیلی دی کوم چه تاسوپخپلوکښې ښه پیژنئ.اوپه ایت کښې دی.﴿ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ﴾دا مثالونه مونږدخلقومخکښې بیانوو. عالمان په دې ښه طریقې سره پوهیږی اودقران په ساده عربی ژبه
کښې دی چه په هغې کښې څه کمې نشته.واضح دلیلونه اوښکاره مثالونه دی.ځکه چه ددې لوستلو او اوریدلوسره خلق خپل ځان بچ اوساتی ددې عذاب دایتونوپه وجه باندې خپل ځان دخرابونه اوساتی .اوددې دثواب دایتونوپه وجه باندې دنیک عملونودپاره محنت اوکړی.

قوله تعالی:: ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ
د مؤمن او مشرک مثال::ددې نه پس الله تعالی دتوحید منونکی اودمشرک داسې مثال پیش کوی،چه یو خوهغه غلام دې چه دهغه ډیرزیات مالکان وی اودهغوی پخپلوکښې دیوبل سره نه لږی.دویم هغه غلام چه هغه خالص دیوسړی ملکیت وی.دهغه نه علاوه په هغه باندې دبل چاڅه اختیارنه وی. نو د ستاسوپه نزدباندې دادواړه برابردی؟بالکل نا!دغه شان توحیدمنونکې چه هغه صرف دیوالله تعالی (**وحده لاشریک له**) عبادت کوی اومشرک چه هغه دڅان دپاره ډیرمعبودان پیداکړی دی،په دې دواړوکښې څه نسبت نشته.چرته دامخلص توحید منونکې؟ اوچرته هغه ګمراه مشرک؟ددې ښکاره اوصفامثال بیانولوسره هم دالله تعالی حمداوثناء وئیل پکاردی چه هغه خپل بندیان داسې پوهه کړل چه حقیقت پرې بالکل ښکاره شو.دشرک بدی اودتوحیدښه والې ورته بالکل یادشو.اوس به دالله تعالی سره هغه خلق شرک کوی څوک چه بالکل بې علمه وی.چه په هغوی کښې سوچ اوفکرصلاحیت بالکل نه وی.

قوله تعالی:: اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ
دې ایت مبارک سره د رسول کریم ﷺ په مرګ باندې د ابوبکر صدیق ؓ استدلا::ددې نه پس حضرت ابوبکر صدیق ؓ ددې ایت تلاوت د حضور ﷺ د وفات نه پس اوکړواوبیابل ﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ﴾ دآخرې پورې تلاوت اوکړواوخلقوته ئې اووئیل چه حضور ﷺ وفات شو.دهغه کلام اوریدلوسره ټولوته یقین شوې وو.ددې ایت مطلب دادې چه ټول خلق ددې دنیانه تلووالادی اوپه اخرت کښې به دخپل رب سره جمع کیږی هلته به الله تعالی په مشرکانو او توحیدمنلووالوکښې صفافیصله اوکړی اوحق به ښکاره شی.دهغه نه ښه فیصله کولو او زیات علم والابه څوک وی؟ ایمان،اخلاص اوتوحیداوسنت والابه خلاص شی.شرک، کفر، انکاراونه منلو والوته به سخت عذاب ملاویږی.دغه شان چه کومودووکسانوپه دنیاکښې یوبل سره جهګړه وه هغوی به دقیامت په ورځ انصاف کونکی الله تعالی مخکښې کړې شی اوفیصله به شی.ددې ایت نازلیدوباندې دحضور ﷺ نه تپوس اوشوچه دقیامت په ورځ باندې به بیاجهګړې وی؟حضور ﷺ اوفرمانیل اویقینا انوحضرت عبدالله ؓ اوفرمانیل چه بیاخوډیره ګرانه ده.(ابن ابی حاتم)

قوله تعالی:: ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ
قیامت کښې به ټولې جګړې فیصله کیږی::دمسند احمدپه حدیث کښې داهم دی چه ایت﴿ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ﴾یعنی هغه ورځ به ستاسونه دالله تعالی دنعمتونوتپوس اوشی،دنازلیدوپه وخت کښې د حضور ﷺ نه چاسوال اوکړوچه هغه کوم نعمتونه دی چه دهغې باره کښې به زمونږنه تپوس کیږی؟ مونږ خوپه کهجورو خوړلو او اوبو څکلوباندې ګذاره کوو.حضور ﷺ اوفرمانیل چه اوس نشته نوڅه چل

اوشو؟ زربه تاسوته ډیرنعمتونه حاصل شی.داحدیث په ترمذی اوابن ماجه کښی هم دي اوامام ترمذی دي ته حسن وائی.(۱)دمسندهم دي حدیث کښی دی چه حضرت زبیربن عوام﷜ دایت((إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ)) په نازلیدوباندي تپوس اوکړوچه یارسول الله‌ازمونږکومي جهګړي چه په دنیاکښی د یو بل سره وي هغه به هلته دقیامت په ورځ باندي بیاکیږی؟اودګناهونوتپوسونه به هم کیږی؟حضورﷺ اوفرمائیل هو،هغه به بیاضرورکیږی اوهریوکس ته به خپل پوره پوره حق ملاویږی.دااوریدوسره هغه عرض اوکړوچه داخوبیاډیرګران کاردي.(۲) مسنداحمد کښی دی چه حضورﷺ فرمائیلی دی چه د ټولونه مخکښی به دګاونډیانودیوبل سره جهګړي به پیش کړي شی (۳).اوپه حدیث کښی دی چه په هغه پاک ذات مي دي قسم وی.دچاپه قبضه کښی چه زماساه ده چه دټولوجهګړوفیصله به دقیامت په ورځ کیږی.تردي چه هغه چیلي کوموچه پخپلوکښی جهګړي کړي وی اویوه بلي لره په خکروهلي وی،دهغي بدله به تري هم اخستلي شی.(۴)(مسنداحمد)

د مسندیوبل حدیث کښی دی چه دوه چیلي په جهګړه باندي لیدلوسره حضورﷺ دحضرت ابوذر﷜ نه تپوس اوکړوچه تاته پته ده دوی ولي جهګړه کوی؟حضرت ابوذر﷜ جواب ورکړوچه حضورﷺ ماته څه پته ده؟حضورﷺ اوفرمائیل چه تهیك ده،خوالله تعالی ته ددي پته ده اودقیامت په ورځ به ددوی دواړوانصاف کوی.(۵)

بزارکښی دی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه ظالم اوخیانت کونکي بادشاه اودهغه رعایابه دقیامت په ورځ باندي جهګړه کوی اورعایابه په هغه باندي غالبه شی،نوالله تعالی به حکم اوکړی چه دي دوزخ ته اوغورځوئ.(۶)ددي حدیث یورواېت کونکي اغلب بن تمیم چه څنګه حافظ پکاروی هغه شان نه دي.حضرت عبدالله بن عباس﷜ فرمائی چه هرربښتوني به دروغژن نه،هرظالم دمظلوم نه،هرهدایت موندلووالابه ګمراه نه،هرکمزوري به دزوراورسره هغه ورځ جهګړه کوی.تردي چه دروح اوبدن په مینځ کښی به هم هغه ورځ جهګړه وی.روح به بدن باندي الزام لږوی چه ټولي بدئ تاکړی دی اوبدن به روح ته وائی چه ټول خواهش اوشرارت دستاوو.یوفرښته به په هغوی کښی فیصله اوکړی.اوبه فرمائی چه واوریږ!ایوانسان دي دهغه سترګي شته،خوبالکل شل اوګوډدي،ګرځیدي نشی.دویم کس روندي ډك دي خوزماخپي نشته چه لاړشم اودامیوي رااوشکوم.روندورته جواب ورکوی چه راشه زماخپي شته زه به تاپه خپله ملاسورکړم اوبوبه دي خم.نودوی دواړه لاړشی اودخپلي خوښي میوي اوشکوی .اووایی په دوی دواړوکښی مجرم څوك دي؟بدن اوروح به جواب ورکړی چه دواړه مجرمان دی. فرښته به جواب ورکړی چه بس فیصله تاسواوکړه. بدن لکه سورلي ده اوروح په دي باندي سوردي.ابن ابی حاتم کښی دی چه حضرت عبدالله بن عمر﷜ فرمائی چه ددي ایت نازلیدو باندي مونږحیران شوچه زمونږاواهل کتاب خوخپلوکښی جهګړه نشته،بیابه دقیامت په ورځ څنګه جګړي کوو؟ددي نه پس چه په خپلوکښی فتنې شروع شوی نومونږته پته اولږیده هم داهغه جهګړي دی کومي چه به دالله تعالی په دربارکښی پیش کیږی.ابوالعالیه﷫ فرمائی چه دقبلي والابه دي قبلي والاسره جهګړه کوی.اوابن

---

(۱) احمد: ۱۶۴/۱، ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة زمر:۳۲۳۶. س

(۲) احمد: ۱۶۷/۱. وسنده حسن.

(۳) احمد: ۱۵۱/۱، وهوحدیث حسن المعجم الکبیر للطبرانی: ۳۰۳/۱۷ ح/۸۳۶. وسنده حسن.

(۴) احمد: ۲۹/۱ ،. وحدیث مسلم: : ۲۵۸۲. یغنی عنه.

(۵) احمد: ۱۶۲/۱.

(۶) مسند البزار:۱۶۴۴ .

Scanned with Ca

زیدنه روایت دی چه مراد داسلام والواوکافرانوجهګړه ده. خومونږمخکښی بیان کړې دې چه د ایت د نولودپاره عام دې.والله سبحانه وتعالی اعلم.

Scanned with Ca

فَمَنْ اَظْلَمُ	مِمَّنْ	كَذَبَ	عَلَى اللّٰهِ	وَكَذَّبَ
پس څوك دي ډير ظالم	دهغه چانه	چې دروغ ئې اوترل	په الله پورې	او دروغ ئې اوګنړو
نود هغه چانه زيات ظالم څوك كيدې شي	چې په الله ﷻ باندې دروغ اوترې	او كله چې		
بِالصِّدْقِ	اِذْ جَآءَهٗ ؕ	اَلَيْسَ	فِيْ جَهَنَّمَ	مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾
صداقت لره	كله چې راغې هغه ته	آيا نشته	په دوزخ كښې	خائې داوسيدو ډپاره دكافرانو
ورته ربښتينې خبره راشي نو هغه دروغ اوګنړي؟	آيا د(داسې) كافرانو استوګنه په دوزخ كښې نه ده			
وَالَّذِيْ	جَآءَ بِالصِّدْقِ	وَصَدَّقَ بِهٖٓ	اُولٰٓئِكَ	هُمُ
او هغه كس	چې رائې وړو صدق	او هغه چاچې ربښتينې اومنو هغه	دغه كسان چې دي	هم دوئ
اوڅوك چې ربښتينې خبره راوړي	او هغه ربښتيا اومني	.....نو هم دغه كسان		
الْمُتَّقُوْنَ ﴿۳۳﴾	لَهُمْ	مَّا	يَشَآءُوْنَ	عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ
دعذاب نه بچكيدونكي دي	دپاره ددوئ	هغه څه دي	چې غواړي ئې دوئ	په نز درب خپل
پرهيزګاران دي	هغوئ	ډپاره به د خپل رب سره هغه څيز وي كوم چې هغوى اوغواړي		
ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا	الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾	لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ	عَنْهُمْ	اَسْوَاَ الَّذِيْ
دا بدله ده	دنيكانو خلقو	دپاره ددې چې لرې كړي الله	ددوئ نه	ډيره بده هغه ګناه
دا د نيكانو خلقو بدله ده	..... ددې دپاره چې الله ﷻ د هغوئ هغه ګناهونه كوم چې هغوى			
عَمِلُوْا	وَيَجْزِيَهُمْ	اَجْرَهُمْ	بِاَحْسَنِ	الَّذِيْ
چې كړي وه دوئ	او چې وركړي دوئ له	اجر ددوئ	په سبب د ډير ښه عمل	هغه
كړي دي هغه ورته معاف كړي	اودنيكو اعمالو ورته پوره پوره بدله وركړي			
كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾			
چې وړ دوئ	چې كوو به ئې			

قوله تعالى:: فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ

دټولونه غټ ظالم څوك؟:-مشركانو په الله ﷻ به ډيرغټ دروغ وئيلى وواوالزامونه ئې پرې لږولې وو.كله به ئې دهغه سره نورمعبودان خودل،كله به ئې فرښتې دالله ﷻ لونړه خودلې،كله به ئې په مخلوق كښې څوك دهغه څوې يادولوچه ددې ټولوكارونونه دالله ﷻ ذات پاك اوصفاوو،ددې سره په هغوى كښې دويم خراب عادت داووچه كومې خبرې به الله ﷻ په نبيانو عليهم السلام باندې نازلولې هغه به ئې نه منلې،نواوئې فرمائيل چه دې دټولوغټ ظالم دې اوكومه سزاچه هغوى ته پكاردە هغې نه ئې خبره كړل چه دداسې خلقوڅائې دوزخ دې څوك چه دمرګ پورې په انكاراودروغوباندې وو.

قوله تعالى:: وَالَّذِيْ جَآءَ بِالصِّدْقِ

د هغوى دخراب عادتونواوسزاذكركولونه پس بيادمومنانودښه عادتونوذكركوى چه ربښتيانې راوستل اوربښتيانې اومنل يعنى حضور ﷺ حضرت جبرائيل عليه السلام اوهرهغه كس كوم چه دتوحيداقراركوى او د نبيانو عليهم السلام مسلمان امت.دوى به دقيامت په ورځ وانى چه تاسومونږته څه راكړل اوڅه مواوونيل

Scanned with Ca

په هغې مونږ عمل اوکړو. پخپله رسول الله ﷺ هم دې ایت کښې داخل دې حضور ﷺ هم ربښتیا راوړلو والا اود نورو رسولانو تصدیق کونکې اوپه هغوی باندې چه څه نازل شوی دی دهغې منلووالاوواوددې سره واصفت دتولو ایمانارودې چه هغوی الله ﷻ باندې، فرښتو باندې، کتابونو باندې، اورسولانوباندې ایمان لري.

دربیع بن انس په قرات کښې دی ﴿وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ﴾ دی. حضرت عبدالرحمن بن زیدبن اسلم فرمائی ربښتیا راوړلو والاحضور ﷺ دې اوهغه ربښتیامنلووالامسلمان دې هم هغه متقی، بزرګ او پرهیزګاردې څوک چه دالله ﷻ نه ویریږی اودشرک اوکفرنه ځان ساتی دهغوی دپاره جنت دې هغوی به چه څه غواړی ورته به ملاویږی. ددې پاک خلقودپاره هم دغه بدله ده دهغوی بدئ خومعاف کړی او نیکیانې ئې قبولې کړی. ځنګه چه په بل روایت کښې دی. ﴿اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا﴾ دا هغه خلق دی چه ددوی نیکیانې مونږ قبولې کړو. اوبدئ ئې معاف کړودوی به په جنتونوکښې اوسیږی دوی سره بالکل ربښتیااوصحیح وعده ده.

اَلَيْسَ اللّٰهُ	بِكَافٍ	عَبْدَهٗ ؕ	وَيُخَوِّفُوْنَكَ	
آیا نۀ دې الله	کافی	بنده خپل لره	او یروی دا خلق تالره	
.....	..آیا صرف الله ﷻ دخپل (نیک) بنده دپاره کافی نه دې ؟| او دوئ تا دالله ﷻ			
بِالَّذِيْنَ	مِنْ دُوْنِهٖ ؕ	وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	
په هغه معبودانو سره	چې بې دالله نه دی	او هغه څوک چې ګمراهه ئې کړی الله	پس نشته هغه لره	
نه سوا د نورو څیزونو نه ویروی	اوڅوک چې الله ﷻ بې لارې کړی	نوهیڅوک ئې په لار کولې نشی		
مِنْ هَادٍ ؕ	وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ مُّضِلٍّ ؕ	
څوک لار ښودونکې	او چاته چې هدایت اوکړی الله	پس نشته هغه لره	څوک ګمراهه کونکې	
اوچا ته چې الله ﷻ هدایت اوکړی	نو هغه هیڅوک ګمراه کولې نشی			
اَلَيْسَ اللّٰهُ	بِعَزِيْزٍ ذِى انْتِقَامٍ ۝	وَلَئِنْ	سَاَلْتَهُمْ	مَّنْ
آیا نۀ دې الله	غالب او خاوند دبدلې اغستلو	او که چرې	تپوس اوکړې ته ددوئ نه	چې چا
آیا الله ﷻ زبردست اوانتقام اخستونکې نه دې ؟	او که ته ددوئ نه تپوس اوکړې چې			
خَلَقَ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ	قُلْ	اَفَرَءَيْتُمْ
پیدا کړی دی اسمانونه	او زمکه	نو ضرور به وائی دوئ چې الله	ورته اووایه	آیا پس وینئ تاسو
اسمانونه اوزمکه چا پیدا کړی دی؟	نو دوئ به وائی چې الله (پیدا کړی دی)	ته ورته اووایه چې ښه ده		
مَّا	تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	اِنْ اَرَادَنِىَ اللّٰهُ	بِضُرٍّ
هغه معبودان	چې رابلې ئې تاسو	بې دالله نه	که اراده اوکړی ماته الله	دضرر رسولو
نو داراته اوښائې چې تاسو دالله نه بغیر دچا عبادت کوئ که چرې الله ماته څه تکلیف رارسول اوغواړی				

هَلْ هُنَّ	كَشِفٰتُ	ضُرِّهٖۤ	اَوْ اَرَادَنِیْ	بِرَحْمَةٍ
ایا دا معبودان (بتان)	لري کونکی دی	دضرر دهغه (زمانه)	یا اراده اوکړي ماته	په رحمت سره
نوایا هغوئ دهغه (راکړي شوي) تکلیف لري کولي شی	یا که الله ﷻ ماسره څه مهربانی کول			
هَلْ هُنَّ	مُمْسِكٰتُ	رَحْمَتِهٖ ؕ	قُلْ	حَسْبِیَ اللّٰهُ ؕ	عَلَیْهِ
آیا دی دا بتان	بندونکی	درحمت دهغه	ورته اووایه	کافی دي مالره الله	هم په هغه باندي
اوغواړي	نو هغوئ دغه مهربانی منع کولي شی	ته اووایه چې زما دپاره صرف الله ﷻ کافی دي			
یَتَوَكَّلُ	الْمُتَوَكِّلُوْنَ ۝	قُلْ	یٰقَوْمِ	اعْمَلُوْا	عَلٰی مَكَانَتِكُمْ
بروسه کوی	بروسه کونکی	ورته اووایه	اے قومه زما	کار کوئ تاسو	په خپل خپل
بهروسه کونکی همیشه په هغه بهروسه کوی	ته ورته اووایه چې ائې زما قومه ! تاسو په خپلو اعمالو کښې				
اِنِّیْ عَامِلٌ ۚ	فَسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ ۙ ۝	مَنْ یَّاْتِیْهِ
بیشکه زهٔ خپل کار کونکي یم	پس زر به	پته اولږی تاسو ته	چې څوك دي چې راځی هغه ته
مشغول اوسئ	زه هم پخپل عمل کښې مشغول یم	نو ډیر زر به تاسو ته معلومه شی چې په چا باندي			
عَذَابٌ	یُّخْزِیْهِ	وَیَحِلُّ	عَلَیْهِ	عَذَابٌ مُّقِیْمٌ ۝
عذاب	چې رسوا به کړی هغه	او نازلیږی	په هغه باندي	عذاب همیشه
رسوا کونکي عذاب راتلونکي دي	اوپه چا باندي همیشه عذاب واقع کیدونکي دي			

قوله تعالی:: اَلَیْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ

دومن دپاره الله ﷻ کافی دي:- په یوقرات کښې ﴿اَلَیْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبَادَهٗ ؕ﴾ دی.یعنی الله ﷻ دخپل هریوبنده دپاره کافی دي په هغه باندي هریوکس ته بهروسه ساتل پکاردی.رسول الله ﷺ فرمائی چه هغه ته خلاصي ملاؤشوچاته چه داسلام هدایت اودضرورت په لحاظ باندي روزی ورکړي شوه اوصبرورته هم نصیب شو.(ترمذی وغیره) (۱) ای نبی! داخلق تادالله ﷻ نه علاوه دنورو خلقونه ویروی.داددوی جهالت او ضلالت دي اوالله ﷻ چه څوك ګمراه کړی هغه ته څوك لارنشی خودلي.څنګه چه چاته الله ﷻ لارخودلي وی هغه څوك بې لارې کولي نشی.الله ﷻ دلوي مرتبې والادي.په هغه باندي بهروسه کولو والا ته څوك څه نشی وئیلي،دهغه طرف ته ښکته کیدووالاکله هم محروم نه پاتې کیږی.دهغه نه زیات عزت والا څوك نشته،دغه شان دهغه نه زیات انتقام باندي قادرهم بل څوك نشته،څوك چه دهغه سره کفراوشرك کوی دهغه درسولانوسره جهګړي کوی هغه به هغوی ته ضرور سزا ورکوی .

قوله تعالی:: وَیُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِیْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ

د ناشکرئی انتها: دمشرکانو نور جهالت بیانیږی چه ددي سره چه الله ﷻ دهرڅه خالق ګنړی بیاهم د داسي معبودانوعبادت کوی چه هغوی چاته څه ګټه تاوان نشی رسولي هغوی ته څه حکم اختیار نشته. حدیث کښې دی الله ﷻ یاد ساتئ هغه به دستاسوحفاظت کوی،الله ﷻیادساته نوهغه به هروخت خپل ځان سره موجود وینې. د اسانتیا وخت کښې دالله ﷻ په نعمتونوباندي شکراداکوه دسختئ په وخت

---

(۱) ترمذی کتاب الزهد باب ماجاء فی الکفاف والصبر علیه:۲۳۴۹ ، وسنده حسن ، حاکم: ۱۲۲/٤، احمد: ۱۹/٦.

Scanned with Ca

کښی به هغه ستا پکار راشی.که څه غواړې نوالله ﷻ نه اوغواړه اوکه مددغواړې نوالله ﷻ نه مدد اوغواړه. یقین ساته که ټوله دنیاتاته څه نقصان رسول غواړی اوالله ﷻ اراده نه وی نوهغوی تاته هیڅ نقصان نشی رسولې .اوکه ټول راجمع شی اوتاته څه فائده درکول غواړی چه هغه الله ﷻ په مقدرکښی نه وی لیکلې نو هغوی تاته بالکل نشی درکولې،صحیفې اوچې شوی دی قلمونه اوچت کړې شوې دی.یقین اوشکرسره په نیکیانوکښی مشغول اوسه.په تکلیفوباندې صبرکولوسره ډیرې نیکیانې ملاویږی. مدد دصبرسره دې.دغم اوخفګان سره خوشحالی اوراحت دې.هره سختی دڅان سره اسانی لری.(۱)(ابن ابی حاتم) نو اووایئ چه زمادپاره الله ﷻ کافی دې.دبهروسه کولووالادهغه په پاك ذات باندې بهروسه کوی.څنګه چه حضرت هود ﷺ خپل قوم ته جواب ورکړې وو،کله چه هغوی وئیلی ووزمونږپه خیال تاته زمونږ یومعبودڅه نقصان دررسولې دې.نوهود ﷺ اوفرمائیل چه زه الله ﷻ ګواه کوم او تاسو هم ګواه اوسئ چه زه دستاسوټولومعبودانونه بیزاره یم.تاسوټول که ماسره څه اخوه دیخوه کولې شئ نواوکړئ اوماته بالکل مهلت مه راکوئ.واوړئ ازماتوکل زماپه رب باندې دې چه هغه دستاسوټولورب دې. د دنیا په مخ چه څومره حرکت کولووالادی دټولواختیاردهغه سره دې.زمارب په صحیح لارباندې دې.

د طاقت سرچشمه ، توکل علی الله ::رسول الله حضرت محمد ﷺ فرمائی چه کوم دټولونه زیات طاقتور کیدل غواړی هغه دې په الله باندې بهروسه ساتی اوچه څوك دټولونه زیات مالداره کیدل غواړی هغه دې په دې ځیزباندې کوم چه دالله ﷻ په لاس کښی زیات اعتمادکوی ددې په ځائې کوم چه دهغه په خپل لاس کښی دې.اوڅوك چه دټولونه زیات بزرګ کیدل غواړی هغه دې دالله ﷻ نه ویریږی(ابن ابی حاتم) بیائې مشرکانوته ویناکښی فرمائیلی دی چه تاسوپخپله طریقه باندې عمل کوئ،زه په خپله طریقه باندې عمل کونکې یم.تاسوته به زرمعلومه شی چه په دنیاکښی څوك ذلیل اوخواریږی؟ او د اخرت په عذابونوکښی څوك ګیریږی؟الله تعالې دې مونږمحفوظ اوساتی.

إِنَّآ	أَنزَلْنَا	عَلَيْكَ	الْكِتَٰبَ	لِلنَّاسِ	بِالْحَقِّ ۚ	فَمَنِ
بیشکه مونږه نازل کړې دی	په تاباندې	دا	کتاب	دپاره دخلقو	په حقه سره	پس هغه څوك
بیشکه مونږ په باندې داکتاب دخلقو دهدایت دپاره په حق مضامینو مشتمل نازل کړې دې انوڅوك چې						
ٱهْتَدَىٰ	فَلِنَفْسِهِۦ ۖ	وَمَن ضَلَّ	فَإِنَّمَا يَضِلُّ	عَلَيْهَا ۖ		
چې په نیغه لارلاړواپس فائیده ئې دپاره دڅان ده	اوڅوك چې بې لارې شو	اپس بې لارې کیږی په څان خپل				
په سمه لار روان شی	نو فائده ئې څان دپاره ده	اوڅوک چې بې لارې شی نو څان ته نقصان رسوی				
وَمَآ	أَنتَ	عَلَيْهِم	بِوَكِيلٍ ۝	ٱللَّهُ	يَتَوَفَّى	ٱلْأَنفُسَ	حِينَ
اونه ئې ته	په هغوئ باندې	ساتونکې ذمه وار	الله قبض کوی	روحونه	په وخت		
اوته په دوئ باندې څه ذمه وار خو نه یئ	هم الله ﷻ روحونه دمرګ په وخت کښې قبض کوی						
مَوْتِهَا	وَٱلَّتِى	لَمْ تَمُتْ	فِى مَنَامِهَا ۖ				
دمرګ ددغې نفسونو کښی	او هغه نفس	چې نه وی مړ	قبض کوی هغه په خوب دهغه کښی				
او چې د چا مرګ نه وی راغلې نودخوب په وخت کښې ئې روح قبض کوی							

(۱) احمد: ۳۰۷/۱ ترمذی کتاب صفة القیامة باب حدیث حنظلة:۲۵۱۶، وسنده حسن شعب الایمان : ۱۰۷٤.

فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰٓى

پس منع کوی | هغه روح | چی فیصله کوی | په هغه باندې | دمرګ | او رالیږی نور روحونه

بیا هغه (روحونه) ایسار کړی | چې دمرګ حکم پرې لګولې شی | اوباقی روحونه ترې

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝

نیټې مقررې ته | بیشکه په دې کښی | ډیرې نښې دی | دپاره دهغه خلقو | چې فکر کوی

تریو مقررې نیټې پورې راپریږدی | بیشکه په دې کښې هغه خلقو دپاره نښې دی | چې سوچ فکر کوی

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ ؕ قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا

آیا نیولی دی دې خلقو | بې دالله نه | نور سفارشیان | ورته اووایه | آیا سفارش به کوی اګر که وی هغوی

او دوی دالله ﷻ نه سوا نور خلق (ځان له سفارشیان) جوړ کړی دی | ته ورته اووایه چې

لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ۝ قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ

چې نه لری اختیار | دهیڅ شیز | اونه پوهیږی په هیڅ شیز | ورته اووایه | چې الله لره دې | اختیار دسفارش

سفارش خو هم ټول دالله ﷻ په اختیار کښې دې | .....دآسمانونو اودزمکې

جَمِيْعًا ؕ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝

ټول | هغه لره | بادشاهی دآسمانونو | او دزمکې ده | بیا به هغه ته | واپس کړې شئ تاسو

بادشاهی یوازې د هغه ده | .....اوبیا به ټول هغه ته واپس پیش کیږئ |

وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

او هر کله چې | یادکړې شی الله | یوازې | نو دننه سوزی | زړونه | دهغه کسانو | چې ایمان نه لری

او کله چې (دمعبود په حیثیت) یوازې د یوالله نوم واخستې شی | نود هغه خلقو زړونه سوزی شی | چې په

بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِذَا هُمْ

په آخرت باندې | او هر کله چې | ذکر کیږی | دهغه معبودانو | چې بې دالله نه دی | نو یودم هغوی

آخرت باندې ایمان نه راوړی | اوهر کله چې دالله ﷻ نه سوا د نورو (معبودانو) ذکر اوکړې شی

يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝

خوشحالیږی |

نو هغه وخت دوی خوشحالیږی |

قوله تعالی:: اِنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ

کمراه کیدونکې خپل نقصان کوی:- الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته خطاب کښی فرمائی چه مونږ په تاباندې قران د رښتیا یواوصحیح والی سره دټولوانسانانو او پیریانو د هدایت دپاره نازل کړو.دا فرمان منلو والابه صحیح لارحاصلولوسره خپله فائده کوی اوددې لارې سره نورخلق په غلطه لارباندې تلوسره خپل ځان

ته نقصان ورکوی.ته ددې ذمه وارنه ئې چه خواه مخوه دې هریوکس دااومنی.ستاپه ذمه صرف هغوی ته رسول دی حساب کولووالامونږیومونږپه هرموجودشیزکښی چه څه غواړوورکوو.

قوله تعالی:: اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا

وفات کبری او صغری دواړه دالله ﷻ په قبضه کښې دی: وفات کبرې چه په هغې کښی زمونږلیږلې شوې فرښتې روح قبض کوی اووفات صغرې کوم چه دخوب په وخت کښی وی زمونږپه قبضه کښی دی څنګه چه ایت کښی دی.﴿وَهُوَالَّذِیْ يَتَوَفّٰكُمْ بِالَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَاجَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ﴾ الخ،یعنی هغه ذات څوك چه تاسو دشپې وفات کړی اودورځې چه تاسوڅه کوې هغه ته معلوم دی بیاتاسودورځې پاسوی چه مقررکړې شوې وخت پوره کړی،بیابه ټول خلق هم دهغه طرف ته ځی او هغه به تاسوته د ستاسو د عملونو خبر درکړی هغه په خپل بندګانوغالب دې هغه تاسوباندې نظرکونکې فرښتې رالیږی تردې چه تاسوته مرګ نه وی راغلې نوزمونږلیږلې شوې فرښتې دستاسوروح قبض کړی اوهغوی اوکمې نه کوی.نوپه دې دواړوایتونوکښی هم داذکرشوې دې مخکښی وړوکې مرګ بیا د لوې مرګ ذکرشوې دې.دلته مخکښی غټ مرګ اوبیادوړوکی مرګ بیان شوې دې.ددې نه داهم پته لږی چه په ملاء اعلی کښی روحونه جمع کیږی څنګه چه دبخاری اومسلم په حدیثونوکښی دی.رسول الله ﷺ فرمانی چه په تاسو کښی څوك په خپل کټ کښی اوده کیدوته لاړشی نودخپل لنګ لاندنی طرف باندې دې هغه صفاکړی پته نه لږی چه په هغه باندې څه څیز وی؟ بیادې دادعااووانی.**باسمك ربی وضعت جنبی ارفعه ان امسکت نفسی فارحمها وان ارسلتها فاحفظها بما تحفظ به عبادك الصالحین** یعنی زما پالونکی ربه!دستادپاك نوم په برکت سره اوده کیږم اودستاپه رحمت به پاسم،که ته زماروح واخلې نوپه هغه باندې رحم اوکړه اوکه ته هغه اولیږې نو د هغه داسې حفاظت اوکړه څنګه چه دخپل نیك بندیانو کوې. دا بعضې بزرګانوقول دې چه د مړو روحونه کله چه هغوی مړه اودژوندوروحونه کله چه هغوی اوده شی قبض کړې شی اوپه خپلوکښی پیژندګلوکوی ترڅوچه الله ﷻ غواړی بیادمړورحونه خوهغلته پاتې کړې شی اونورروحونه په مقرروخت باندې پریخودې شی،اوپه دې کښی کله هم غلطی نه کیږی. د غور او فکر کولوچه څوك عادت دی هغوی دالله ﷻ په دې یوه خبره کښی ډیردلیلونه اوموندی.

قُلِ	اللّٰهُمَّ	فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ		وَالْاَرْضِ
ورته اووایه	اے خدایه	پیدا کونکیه داسمانونو		او دزمکې
ته ورته اووایه چې ائې الله ﷻ ! داسمانونو او زمکې پیدا کونکیه				
عٰلِمَ الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ	اَنْتَ تَحْكُمُ		بَيْنَ عِبَادِكَ
پوهیدونکیه په پټ	او په ښکاره	ته به فیصله کوې		په منځ دبندګانو خپلو کښی
په پټو او په ښکاره پوهیدونکیه هم ته به دخپلوبندګانو په هغه خبرو کښې په				
فِيْمَا	كَانُوْا	فِيْهِ	يَخْتَلِفُوْنَ ۝	وَلَوْ
په هغه کارونو کښی	چې وۍ دوئ	په هغې کښی	چې اختلاف به ئې کولو	او که چرې وی
کومو کښې چې دوئ جګړې کولې فیصله کوې				.....اوکه د ظالمانو
اَنَّ لِلَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	مَا	فِي الْاَرْضِ	جَمِيْعًا
دپاره دهغه کسانو	چې ظلم ئې کړې دې	هغه څه	چې په زمکه کښی دی	ټول
(مشرکانو) سره ددنیا ټول مالونه موجود شی		اودومره ورسره نور هم	نودقیامت د ورځې	

Scanned with Ca

وَمِثْلَهُ	مَعَهُ	لَافْتَدَوْا	بِهٖ	مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ	
اوپه مثال دهغې نور|دهغه سره|نوخامخابه په فديه کښې ورکړی|هغه هرڅه|دپاره دبچکيدودسخت عذاب نه					
دسخت عذاب نه دخلاصيدو دپاره به هغه ټول ورکول اوغواړی					
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط	وَبَدَا	لَهُمْ	مِّنَ اللّٰهِ	مَا	لَمْ يَكُوْنُوْا
په ورځ دقيامت	او ښکاره به شی	دوئ ته	دطرفه دالله نه	هغه څه	چی نۀ ووۀ دوئ
اوپه دوئ باندې به دالله ﷻ دطرفنه (عذاب) ښکاره شی	د کوم چې به دوئ ګمان				
يَحْتَسِبُوْنَ ۝	وَبَدَا	لَهُمْ	سَيِّاٰتُ	مَا	كَسَبُوْا
چی ګمان به ئې کولو دهغې	او ښکاره به شی	دوئ ته	بدانجامونه	دهغې	چی کړی وی دوئ
هم نه کولو	.....اوخپل ټول بدکارونه به ورته ښکاره شی				اوپه کوم عذاب
وَحَاقَ	بِهِمْ	مَّا	كَانُوْا	بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝
او چاپيره به شی	په دوئ	هغه (عذاب)	چی ووۀ دوئ	چی په هغې پورې به	ئې ټوقې کولې
پورې چې به ئې ټوقې مسخرې کولې هغه بۀ تړې نه راتاوۀ شی (او دوی به راګيرکړی)					

قوله تعالی:: قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

دعقل اوشعورنه خلاص خلق دالله ﷻ سره شرک کوی:-الله ﷻ دمشرکانومذمت کوی چه هغوی بوتانوته خپل معبودان اوخپل سفارشيان اودوستان ګڼړی چه دهغې نه څه دليل شته اونه څه ضرورت.اوهغوی سره څه اختيارشته اونه څه عقل اوشعور،نه دهغوی سترګې شته اونه غوږونه.هغه خوکانړی دی چه هغوی دحيوانانونه هم خراب دی،په دې وجه باندې خپل نبی ته حکم اوکړوچه دوی ته اووايه چه څوک هم نشته چه هغه دالله په مخکښې شونډې اوخوزوی.ترڅوچه دهغه مرضی اواجازت حاصل نه کړی. د ټولوشفاعتونومالك هغه دې.دزمکې اواسمان يواځې بادشاه هغه دې،دقيامت په ورځ به تاسوټول د هغه طرف ته ځئ،هغه وخت به هغه دانصاف سره دستاسوفيصلې کوی اوهغه به هريوته دهغه دعمل مطابق پوره پوره بدله ورکوی.ددې کافرانوداسې حالت دې چه دتوحيدکلمه اوريدل نه غواړی.دالله ﷻ د وحدانيت ذکراوريدلوسره دهغوی زړه تنګ شی اوددې اوريدل هم دهغوی خوښ نه وی.ددوی زړه په دې کښې نه لږی.کفراوکبرهغوی اونيسی.څنګه چه په بل ايت کښې دی. ﴿اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝﴾ يعنی هغوی ته چه کله اووئيلی شی چه دالله ﷻ نه سوادعبادت لائق څوک نشته نودوی کبر کوی اونه ئې منی.ځکه چه دهغوی زړه دحق نه منکردې په دې وجه باطل زرقبلوی.کوم ځائې چه د بتانو او نورو خدايانو ذکرراشی نوهغوی خوشحاله شی.

قوله تعالی:: اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ

دقيامت په ورځې به اختلافاتوفيصله اوشی:دمشرکانوچه دتوحيدنه کوم نفرت اوشرک سره کوم محبت دې دهغې بيان کولونه پس واحدلاشريك الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته فرمائی چه ته صرف يوالله ته اوازکوه چه هغه دزمکې اواسمان خالق دې اودائې هغه وخت پيداکړی دی کله چه داڅه نه ووانه ددې څه نمونه وه.هغه ته دپټ اوښکاره دهرڅه علم دې.داخلق چه په خپلوکښې څه اختلافات ساتی دټولوفيصله به هغه ورځ اوشی کله به چه دوی دقبرونونه راوڅی اودقيامت ميدان ته به راځی.حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمن دحضرت عائشه نه تپوس اوکړوچه حضور ﷺ به دتهجدمونځ په کومه دعاسره شروع

Scanned with Ca

کولو؟حضرت عائشه فرمائی چه ددې دعانه. اللهم رب جبریل ومیکائیل واسرافیل فاطر السموات والارض عالم الغیب والشهادة انت تحکم بین عبادك فیما کانوفیه یختلفون اهدنی لما اختلف فیه من الحق باذنك انك تهدي من تشاء الی صراط مستقیم یعنی ای دجبرئیل میکائیل اواسرافیل ربه ای دزمکی اواسمان بې نمونې جوړونکیه ،ای دحاضر او غائب علم والاته به دخپلوبندګانوداختلافاتوفیصله اوکړی په کوم څیزونو کښی چه اختلاف شوې دې ته ماته په خپل فضل باندې هغې کښی حق لاراوښایې.ته چه چاته غواړې صحیح لارورته اوښائې.(مسلم)حضورﷺ فرمائی چه کوم بنده دادعالولئ نودقیامت په ورځ به الله ﷻ خپلو فرښتوته وانی چه زمادې بنده زمانه وعده اخستلې ده،داوعده پوره کړئ،نوهغه به جنت ته بوتلې شی.هغه دعا دا ده. اللهم فاطر السموت والارض عالم الغیب والشهادة ان ی اعهد الیك فی هذه الدنیا اشهد ان لااله الاانت وحدك لاشریك لك وان محمدا عبدك ورسولك فانك ان تکلنی الی نفسی تقربنې من الشر وتباعدنی من الخیروانی لاائق الا برحمتك فاجعل لی عندك عهدا توفینیه یوم القیمة انك لاتخلف المیعاد.ای الله،ای اسمان اوزمکه بې نمونې پیداکولووالا،ای دپټ اوښکاره علم لرلووالا،زه دستاسره پدې دنیاکښی عهدکوم چه زماپه ګواهئ کښی دستانه علاوه څوك د عبادت لائق نشته ته یواځې ئې دستاڅوك شریك نشته اوزماداهم ګواهی ده چه محمدﷺ دستابنده اورسول دې ته که ماته خپل ځان حواله کړې نوزه به شر ته نزدې اوښه والی نه لرې شم.انې الله ماته صرف دستار حمت اوبهروسه پکارده.نوته زمانه هم عهدواخله کوم په چه ته دقیامت په ورځ پوره کوې اوبې شکه ته وعده خلاف نه ئې.ددې حدیث روایت کونکې سهیل رحمه الله فرمائی چه ماقاسم بن عبدالرحمن رحمه الله ته کله اووئیل چه عون داشان داحدیث بیانوی نواووئې فرمائیل سبحان الله زمونږپرده کونکی ماشومانو جینکو ته هم داحدیث یاددې.(مسنداحمد)

حضرت عبدالله بن عمروؓ یوکاغذراویستواوئې فرمائیل چه دادعامونږته رسول الله ﷺ خودلې ده. اللهم فاطر السموت والارض عالم الغیب والشهادة انت رب کل شئ واله کل شئ اشهد ان لااله الاانت وحدك لاشریك لك وان محمدا عبدك ورسولك والملائکة یشهدون اعوذبك من الشیطان وشرکه واعوذبك ان اقترف علی نفسی اثما اواجره الی مسلم. یعنی ای الله زمکه اواسمان بې نمونې پیداکولووالادپټ اوښکاره علم لرلووالاته دهرڅیزمالك ئې او د هر یو څیزمعبودئې زه ګواهی ورکوم چه دستانه علاوه څوك دعبادت لائق نشته ته یواځې ئې دستاڅوك شریك نشته اومحمدﷺ دستابنده اورسول دې اوفرښتې هم داګواهی ورکوی.زه دشیطان نه اودهغه د شرك نه ستاپناه ته راځم زه ستانه پناه غواړم چه زه پخپله څه ګناه اوکړم یابل مسلمان طرفته رانښکم. ابوعبدالرحمن رحمه الله فرمائی چه دادعاحضورﷺ عبدالله بن عمروؓ ته خودلې وه دابه هغه داوده کیدوپه وخت کښی لوستله.(مسندامام احمد)اوروایت کښی دی چه ابوراشدجبرانی رحمه الله دعبدالله بن عمرونه د یو حدیث اوریدوخواهش اوکړونو عبدالله یوکتاب دهغه مخې ته کیخودو اواوئې فرمائیل دادې کوم چه ماته رسول اللهﷺ لیکلې وو ما اوکتل نوپه هغې کښی لیکلی شوی ووچه ابوبکرؓ اوئیل یا رسول الله! زه سحراومابنام څه وایم؟ حضورﷺ اوفرمائیل داوایه. اللهم فاطر السموت والارض عالم الغیب والشهادة لااله الاانت رب کل شئ ومایکه اعوذبك من شرنفسی وشرالشیطان وشرکه اواقترف علی نفسی سوءاواجره الی مسلم.(ترمذی وغیره) د مسند احمد په حدیث کښی دی چه حضرت ابوبکرصدیقؓ فرمائی چه ماته دالله ﷻ رسولﷺ سحراومابنام ددې دعاوئیلو حکم کړې وو.

قوله تعالی:: وَلَوْاَنَّ لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْامَافِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا

قیامت کښې به مشرکانو ته هیڅ هم پکار نه ورځی:بل روایت کښی دظالمانونه مرادمشرکان دی. فرمائی که هغوی سره هم دومره زمکې د مخ د خزانې نورې وی نودوی به دقیامت دورځې دعذاب په بدله کښی ورکولودپاره تیارشی خوپه هغه ورځ به څه بدله اوفدیه نه قبلیږی. اګرکه ټوله زمکه سرو زروکړی څنګه چه په بل ایت کښی بیان دی.نن به دالله هغه عذابونه دهغوی مخې ته راشی چه چرته به دهغوی

Scanned with Ca

په خیال کښی هم نه وو. کوم کوم حرام کارونه، بدکارونه ،اوګناهونه اوخرابیانې هغوی په دنیا کښی کړی وودهغې ټولوسزابه نن خپلې مخې ته وینی. په دنیا کښی به ئې چه دکوموسزاګانوباره کښی اوریدلوسره خندل نن به هغې ګناهونو د ځلورو طرفونه ګیرکړی وی.

فَإِذَا	مَسَّ الْإِنْسَانَ	ضُرٌّ	دَعَانَا	ثُمَّ إِذَا	خَوَّلْنَاهُ
پس هر کله چې	اورسیږی	انسان ته	څه تکلیف	انو رابلئ مونږ	پیا چې کله
اوکړومونږ هغه ته					
اوڅه وخت چې انسان ته تکلیف اورسیږی				انومونږ رابلی	بیا چې مونږ ورته دخپل طرفنه
نِعْمَةً	مِّنَّا	قَالَ	إِنَّمَا أُوتِيتُهُ	عَلَىٰ عِلْمٍ	بَلْ
نعمت	دطرفه زمونږ نه	انو وائی	بیشکه راکړې شوې دې ماته دا		په وجه دعلم
(نه) بلکه					
څه نعمت ورکړو	نو وائی چې داخو ماته	پخپل علم اوعقل سره ملاؤ شوې دی			..... (نه) بلکه
هِيَ فِتْنَةٌ	وَلَٰكِنَّ	أَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٩﴾	قَدْ قَالَهَا	
دا ازمیښت دې	ولیکن	زیات ددوئ	نه پوهیږی	بیشکه وئیلی ده دا خبره	
دا یو امتحان دې	خو زیات خلق (په دې خبره) نه پوهیږی				.....داخبرې هغه خلقو
الَّذِينَ	مِن قَبْلِهِمْ	فَمَا أَغْنَىٰ	عَنْهُم	مَّا كَانُوا	
هغه کسانو	چې مخکښی ددوئ نه وؤ	پس هیڅ پکار رانعلل دهغوئ	هغه څه	چې وؤ هغوئ	
هم کړې وې	کوم چې د دوی نه وړاندې وو	خو هغوی چې څه کړی وو هغې ورته هیڅ فائده اونه			
يَكْسِبُونَ ﴿٥٠﴾	فَأَصَابَهُمْ	سَيِّئَاتُ	مَا	كَسَبُوا	وَالَّذِينَ
چې کول به ئې	پس اورسیدل هغوئ ته	بدانجامونه	دهغې	چې کړی وؤ هغوی	او هغه کسان
رسوله	..... بلکه دخپلو بدو عملونه سزا ورته ملاو شوه				.....او په دوئ کښی چې
ظَلَمُوا	مِنْ هَٰؤُلَاءِ	سَيُصِيبُهُمْ	سَيِّئَاتُ	مَا	
چې ظلم ئې اوکړو	ددې خلقو نه	ډیر زر به اورسیږی هغوئ ته	بدانجامونه	دهغې	
څوک ظالمان دی	هغوی ته به هم دخپلو بدو عملونه سزا ملاویږی				
كَسَبُوا	وَمَا هُم	بِمُعْجِزِينَ ﴿٥١﴾	أَوَلَمْ يَعْلَمُوا		
چې کړی وؤ هغوئ	اونه دی دوئ	عاجزه کونکی مونږ لره	آیا اونه ده معلومه دوئ ته		
.....او دوئ (الله ﷻ په خپلو تدبیرونوسره) عاجزه کولې نشی			آیادوئ ته دا معلومه نه ده		
أَنَّ اللَّهَ	يَبْسُطُ الرِّزْقَ	لِمَن	يَشَاءُ	وَيَقْدِرُ	
چې پیشکه الله	فراښه کوی رزق	دپاره دهغه چا	چې غواړی هغه	او په اندازه کوی (رزق)	
چې الله ﷻ دچاپه حق کښې اوغواړی	نو هغه دپاره روزی فراخه یا لنډه تنګه کړی				

Scanned with Ca

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٤٢﴾ قُلْ يَا عِبَادِيَ

بیشکه به دې کښې | خامخا نښې دی | دپاره دهغه قوم | چې ایمان راوړی | اووایه | اے بندګانو زما

به دې کښې د مومنانو دپاره ډیرې نښې پرتې دی | ته (زما دطرفنه خلقو ته) اووایه چې

الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ

هغه کسانو | چې زیاتې مو کړې دي | په نفسونو خپلو باندې | مه نا امیده کیږئ | درحمت دالله نه

اې زماهغه بندګانو چې به خپلو ځانونو مو زیاتې کړې دي | دالله ﷻ درحمت نه مه ناامیده کیږئ

إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾

بیشکه الله | معاف کوی ګناهونه | ټول | بیشکه هغه | هم هغه بښونکې مهربانه دې

بیشکه الله ﷻ به ستاسو ټول ګناهونه معاف کړی | بیشکه الله ﷻ بخښونکې زیات رحم کونکې دې

وَأَنِيبُوا إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِن قَبْلِ

اووابس راشئ | خپل رب ته | او غاړه کیدئ | احکمونو دهغه ته | مخکښې ددې نه |

اوتاسو خپل رب ته رجوع اوکړئ | اودهغه تابعدار جوړ شئ | د دې نه مخکښې چې په تاسو

أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾ وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ

چې راشی تاسو ته | عذاب | ببیا به ستاسو سره هیڅ امداد نه کیږی | او پیروی کوئ | دښه طرف

باندې عذاب راشی | بیا به (هغه وخت) ستاسو مدد نشی کولې | اورائې خلقو)! تاسو ته چه د خپل رب

مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ

دهغې چې نازل کړې شوی دې تاسو ته | دطرفه درب ستاسو نه | مخکښې ددې نه | چې راشی تاسو ته

د طرفه کوم حکمونه نازل شوې دی | په هغې کښې په افضل عمل اوکړئ | ددې نه وړاندې چې په تاسو

الْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿٥٥﴾ أَن تَقُولَ نَفْسٌ

عذاب | ناسپه | او یې تاسو | ناخبره | هسې نه چې بیا اووائی | یو نفس |

ناڅاپه عذاب راشی | اوتاسو پرې خبر هم نه یئ | ..... د دې دپاره چې یو نفس دا اونه وائی چې

يَا حَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُّ فِي جَنبِ اللَّهِ وَإِن كُنتُ

اے افسوس دې | په هغه ګناه چې کړی ده ما | په طرف یعنی په حق دالله کښې | او بیشکه چې ومه زهٔ

افسوس دې په هغه کوتاهۍ چې ما دالله ﷻ په حق کښې کړې وه | ..... اوما صرف

لَمِنَ السَّاخِرِينَ ﴿٥٦﴾ أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ اللَّهَ هَدَانِي لَكُنتُ

دتوقو کونکونه | یاد اووائی | چې ارمان دې که الله | هدایت کړې وې ماته | نو خامخا به ومه زهٔ

توقې کولې | ..... یاد | اووائی چې که الله ﷻ راته هدایت کړې وې | نوزه به په پرهیزګارانو

مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۝	اَوْ تَقُوْلَ	حِيْنَ	تَرَى	الْعَذَابَ	لَوْ اَنَّ لِيْ
دمتقیانونه	یادا اووا ئی	په کوم وخت کښی	چی اوویني	عذاب	افسوس که وي ماته
کښي شامل وم	یا چي عذاب اوویني نو دابه اووائی که چرته زه «دنیاته» واپس لاړم				
كَرَّةً	فَاَكُوْنَ	مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝	بَلٰى	قَدْ جَآءَتْكَ	اٰيٰتِيْ
تلل بیا	پس شم به زه	دنیکانو خلقو نه	ولي نه	بیشکه راغلی وو تاته	آیتونه زما
.....نونیکانو کښي به شامل شم	(الله ﷻ به اوفرمائی ولي نه) زما آیتونه تاته درغلی وو				
فَكَذَّبْتَ	بِهَا	وَاسْتَكْبَرْتَ	وَكُنْتَ	مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝	
نو دروغ اوګنړل تا	هغي لره	او تکبر اوکړو تا	اووي ته	دکافرانونه	
خو تا هغه دروغ اوګنړل	اوتکبردي اوکړو	اوپه کافرانو کښي شامل پاتي شوي			

قوله تعالی:: فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا

تنکی اواسانی دازمینبت دپاره دی:- الله ﷻ دانسان حالت بیانوی چه دتکلیف په وخت کښی خوهغه ژړا او فریادشروع کړی دالله ﷻ طرف ته پوره رجوع اوکړی خوچه کله تري تکلیف لري شی اوراحت او سکون ورته ملاوشی نودي سرکش اوکبرکونکي شی اووائی چه داخودالله ﷻ په ذمه باندي زماحق دي. زه دالله په نزددي حقدارووم.مادخپل عقل اوفیصلوپه وجه باندي دانعمت حاصل کړو.الله ﷻ فرمائی خبره داسي نه ده بلکه دازمونږدطرف نه ازمینبت دي اګرچه مونږته دمخکښی نه علم دي خودامونږ ظاهرول غواړواوکتل غواړوچه دوی دنعمت شکراداکوی اوکه نه؟خودوی بي علمه خلق دی.دعوی کوی دخولي نه خبره اوباسی خوداصل نه ناخبره وی.هم دغه دعوی اوخبره ددوی نه مخکښی خلقو هم کړي ده خودهغوی خبره صحیح نشوه اودي.نعمتونویابل څه څیزاودهغوی عملونوهغوی ته څه.فائده ورنه کړه.څنګه چه په هغوی باندي تکلیف راغي دغه شان به هغوی باندي یوځل دهغوی د بد علمونو تکلیف راشی اودوی به الله ﷻ عاجزیاستړي نه کړي شي.څنګه چه قارون ته دهغه قوم وئیلی ووچه دومره ځان مه بنایه.الله ﷻ ځان خوښونکی نه خوښوی.دالله ﷻ درکړي شوی نعمتونه خرچ کړه اواخرت اوګټه.په دي دنیاکښی هم فائده حاصل کړه اوچه څنګه الله ﷻ دتاسره سلوك کوی ته هم دخلقوسره احسان کوه.په زمکه باندي فسادمه خوروه الله ﷻ مفسدخلق نه خوښوی.په دي باندي قارون اووئیل چه داڅول نعمتونه دولت اوعزت هغه په خپل علم اوهنرباندي حاصل کړی دی.الله ﷻ فرمائی چه هغه ته معلومه نه وه چه دهغه نه مخکښی مال جمع کولووالامونږهلاك اوبربادکړل.مجرمانونه به دهغوی د ګناهونوباره کښی تپوس نه کیږی؟الغرض زیات مال جمع کول اوالله ﷻ هیرول دکفرخاصیت دي. د کافرانوقول دي چه مونږسره مال زیات دي مونږته به څنګه عذاب ملاوشی اوس هغوی ته داهم معلومه نه ده چه درزق مالك الله ﷻ دي چه چاته غواړی زیات ورکړی اوچاته غواړی کم ورکړی.په دي کښی د ایمان والودپاره دعبرت نخي دی.

قوله تعالی:: قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

دالله ﷻ دطرف نه دتوبي عام دعوت:- پدي ایت کښی تولونافرمانوته که هغوی مشرکان او کافران هم دی ته دتوبي دعوت ورکړي شوي دي اوورته وئیلی شوی دی چه دالله ﷻ ذات غفوراورحیم دي اوهغه د هر

یوتوبه کونکی توبه قبلوی.دهربښکته کیدونکی طرفته متوجه کیږی.دتوبه کونکی زاړه ګناهونه معاف کوی که هغه هرڅنګه وی اوهرڅومره وی اوکه هروخت وی.

شرک بې د توبې نه نه معاف کیږی: داایت بغیردتوبې نه دګناهونودمعاف کولوباره کښی ګنړل صحیح نه دی.خکه چه شرک خوبې توبې نه معاف کیږی.صحیح بخاری کښی دی چه څه مشرکان چه هغوی به قتل اوزناهم کړې وه دحضورﷺ مخکښی به حاضرشول چه دستاسودادین اوخبرې زمونږپه هرلحاظ باندې خوښوې دی خوداغټ غټ ګناهونه کوم چه زمونږنه شوی دی ددې کفاره به څه وی؟په دې باندې آیت ﴿وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ﴾ اودااَیت نازل شو.دمسند احمدپه حدیث کښی دی چه حضورﷺ فرمائی چه ماته ټوله دنیااوپه دې کښی دټول څیزملاویدوباندې دومره خوشحالی نه ده ملاوشوې څومره چه دې ایت په نازلیدوباندې ملاوشوه.یوکس تپوس اوکړوچه چاشرک کړې وی؟حضورﷺ د لږ ساعت دخاموشې نه پس اوفرمائیل.خبردارچه چاهم شرک کړې وی،دړې خله ئې دا اوفرمائیل. مسند احمد په یوحدیث کښې دی چه یوبوډاکس د کونټې په مددباندې حضورﷺ ته حاضر شو اوحضورﷺ ته ئې اووئیل چه زماغټ واړه ګناهونه ډیرزیات دی ماته به معافی ملاوشی؟حضورﷺ اوفرمائیل چه ته د اللہ ﷻ دتوحید ګواهی نه ورکوی؟هغه اووئیل چه او،اودستادنبوت ګواهی هم ورکوم.حضورﷺ اوفرمائیل چه دغه ګناهونه معاف دی.ابوداؤدترمذی کښی دی حضرت اسماء رضی اللہ عنہا فرمائی مادرسول اللہﷺ نه اوریدلی دی هغوی ددې ایت تلاوت داسې کولو ﴿اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾ اودا آیت مې تړې داسې واوریدلو. ﴿قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ﴾ نوددې ټولو حدیثونونه ثابت شوه چه په توبه باندې ډیرګناهونه معاف کیږی.انسان ته درب درحمتونونه مایوسه کیدل نه دی پکارکه ګناهونه هرڅومره وی.دتوبې اورحمت دروازه هروخت کهلاوُوی اوډیر فراخه دې. د اللہ ﷻ ارشاددې. ﴿اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ﴾ چه خلقوته معلومه نه ده چه اللہ ﷻ د خپلو بندیانوتوبه قبلوی. اوفرمائی﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْۗءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ﴾ څوک چه خراب کاراوکړی اوپخپل ځان باندې ظلم اوکړی بیااللہ ﷻ ته توبه اوکړی نوهغه به اللہ ﷻ بخښونکې اومهربانه ذات اومومی. د منافقانو سزاچه هغه به ددوزخ په لاندینۍ طبقه کښی وی دهغې باره کښی فرمائی. ﴿اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا﴾ یعنی ددې نه هغوی خلاص دی څوک چه توبه اوکړی اوځان صحیح کړی.دانصاراوُ دا شرک چه هغوی به اللہ ﷻ په دریوکښی دریم ګنړلوذکرکولوسره دهغوی دسزاګانونه مخکښی فرمائی. ﴿ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ﴾ که دوی خپلې خبرې پرې نه خودلې.نوبیااللہ ﷻ دلوې شان اوجلال والافرمائی چه دوی اللہ ﷻ ته توبه ولې نه کوی اوولې دهغه نه استغفارنه غواړی؟هغه خوډیررحم کونکې اوغفارذات دې.هغه خلقو کوموچه خندقونه کړی وواومسلمانان ئې په اورکښی اچولی ووذکرکولوسره فرمائی چه څوک مسلمانانوته تکلیف ورکوی اوبیاهم توبه نه کوی نودهغوی دپاره ددوزخ اواورعذاب دې.امام حسن بصری رحمہ اللہ فرمائی چه داللہ ﷻ کرم ته اوګورئ چه دخپل دوستانوقاتلان هم دتوبې طرف ته راغواړی. ددې مضمون نورهم ډیرایتونه دی.

دیو کم سلو کسانو د قاتل قصه: دبخاری اومسلم په حدیث کښی دهغه کس واقعه هم شته چه هغه یوکم سل کسان قتل کړی وو بیائې دبنی اسرائیلو یوعبادت ګذارنه تپوس اوکړوچه ماته دپاره دتوبه کول شته؟هغه انکاراوکړو،هغه هغه هم قتل کړو.بیائې دیوعالم نه تپوس اوکړوهغه ورته اووئیل چه ستا او توبې مینځ کښی څه روکاوټ نشته،اوحکم ئې ورته اوکړوچه دتوحیدمنونکوخلقوکلی ته لاړشه.نوهغه کس دهغه کلی طرف ته روان شوخوپه لارکښی مړشو.درحمت اوعذاب فرښتوپه خپلو کښی اختلاف پیدا شو.اللہ ﷻ ورته دزمکې دناپ کولوحکم اوکړونویولیشت دنیک خلقوکلی ته نزدې ووکوم طرف ته چه هغه هجرت کولواودې ئې دهغوی سره ملاوُکړواودرحمت فرښتودهغه روح واخستلو.داهم ذکرشوی

Scanned with Ca

دی چه هغه دمرګ په وخت کښی په سینه باندې هغه طرف ته روان شو.اوداهم ذکرشوی دی. چه دنیک خلقوکلی ته دنزدې کیدواودخراب خلقوکلی نه دلرې کیدوورته الله ﷻ حکم کړې وو.ددې حدیث د اخلاصه ده اوټول حدیث پخپل خانې بیان شوی دې.حضرت ابن عباس﵁ ددې ایت په تفسیر کښی فرمائی چه الله ﷻ ټول بندیان دتوبې طرف ته رابللی دی.هغوی هم چاچه به حضرت مسیح﵇ ته الله وئیل،هغوی هم چاچه به ورته دالله ﷻ څوې وئیل،هغوی هم چاچه به حضرت عزیر﵇ ته دالله ﷻ څوې وئیل،هغوی هم څوک چه الله ﷻ ته فقیروائی هغوی هم څوک چه دالله ﷻ لاسونه بندیادوی او هغوی هم څوک چه الله ﷻ ته په دریوکښی دریم وائی.الله تعالې دې ټولوته فرمانی چه دوی دالله ﷻ طرف ته ولې نه بښکته کیږی.اوولې دخپلوګناهونومعافی نه غواړی؟الله ﷻ خوبخونکې دې اوډیررحم اوکرم کولو والادې.بیادتوبې دعوت الله ﷻ هغه ته ورکړودچادعوی چه دټولونه غټه وه هغه دعوه کړې وه چه د اوچتې مرتبې والارب زه یم.چاچه وئیلی ووچه ماته پته نشته چه ستاسوبل څوک معبودزمانه علاوه هم شته.حضرت ابن عباس﵁ فرمائی چه ددې نه پس هم چه څوک هم دالله بندیان دتوبې نه مایوسه کوی هغه دالله ﷻ دکتاب نه انکاردی.خوداهم اوپیژنئ چه ترڅوالله ﷻ په یوکس باندې خپله مهربانی اونه کړی هغه ته توبه نه نصیب کیږی.

دقران څوجامع ایتونه: طبرانی کښی دحضرت ابن مسعود﵁ قول دې چه په کتاب الله قران کریم کښی دټولونه عظمت والاایت ایت الکرسی ده اودخیراوشردټولونه جامع آیت ﴿اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ﴾دې اوپه ټول قران کښی دټولونه زیات خوشحالې والاایت دسوره زمر﴿قُلْ یٰعِبَادِی﴾دې.او ټولونه زیات ویرونکې ایت دادې.﴿وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۙ وَّیَرْزُقْهُ مِنْ حَیْثُ لَا یَحْتَسِبُ ؕ﴾یعنی دالله ﷻ نه ویریدونکو خلاصی پخپله باندې الله ﷻ کوی اوهغوی ته دداسې خانې نه رزق ورکړی چه دهغوی په خیال کښی هم نه وی.مسروق﵀ ددې اوریدلوسره اوفرمائیل چه بې شکه تاسورښتونې ئې.حضرت عبدالله بن مسعود﵁ چرته تلوچه قصه خوان ئې اولیدلوچه هغه چاته نصیحت کولو.هغه ورته اوفرمائیل چه ته ولې خلق مایوسه کوې؟بیائې ددې ایت تلاوت اوفرمائیلو.

قوله تعالی:: لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ

دخفګان اونااميدئ نه منع:- دهغه حدیثونوپه کوموکښی چه دخفګان اونااميدې منع شوې ده بیان دې. رسول اللهﷺ فرمائی چه په هغه مې دې قسم وی دچاپه قبضه کښی چه زماساده که تاسوخطاګانې کوې اوپه دې باندې زمکه اواسمان ډک کړې اوبیاالله ﷻ ته توبه اوکړې نوهغه به تاسواوبخی.په هغه ذات مې قسم دچاپه قبضه کښی چه دمحمدﷺ ساده که تاسوخطاګانې بالکل نه کوې نوالله ﷻ به تاسوختم کړی اوهغه خلق به راولی چه کوم به خطاګانې کوی اواستغفاربه کوی اوبیابه الله ﷻ هغوی اوبخی. (مسندامام احمد)حضرت ایوب انصاری﵁ دخپل انتقال په وخت کښی فرمائی،یوحدیث تاسوته مادنن پورې نه دې بیان کړې نن نې درته بیانوم مادرسول اللهﷺ نه اوریدلی دی که تاسوګناه نه کوله نوالله ﷻ به داسې یوقوم پیداکړې ووچه هغوی به ګناه کوله اوبیابه الله ﷻ هغوی بخل.(صحیح مسلم وغیره)

حضورﷺ فرمائی دګناه کفاره شرم اوخفګان ده.حضرت عبیدالله بن عمیر﵀ فرمائی چه ابلیس ملعون اووئیل چه ائې الله تازه دادم﵇ په وجه باندې دجنت نه اوویستلم اوزه په هغه باندې ددې نه بغیرچه ته پرې ماته غلبه راکړې زه غالب نشم راتلې.الله ﷻ ورته اوفرمائیل چه ته په هغوی باندې مسلط نې ابلیس اووئیل چه یاالله ماته څه نورهم راکړه.الله ﷻ ورته اوفرمائیل چه په بنی ادم کښی څومره اولاد پیداکیږی دهغه هومره به دستاهم پیداکیږی.هغه بیادرخواست اوکړوچه یاالله څه نورزیات هم راکړه. الله ﷻ ورته اوفرمائیل دبنی ادم په زړه کښی مې دستادپاره کورجوړکړو.ته به دهغوی په بدن کښی د وینې په ځائې ګرځې هغه بیااووئیل یاالله څه نورهم،څه ته په هغوی باندې خپل سواره اوپیدل اولږوه.

Scanned with Ca

اودهغوی په مال اواولاد کښی خپل کاراوکړه هغوی ته امیدونه ورکړه،اوپه حقیقت کښی ستاوعدې او امیدونه بالکل دروغ دی.هغه وخت ادمﷺ دعااوکړه انې زماپروردګاره دې دې په ماباندې مسلط کړواوزه دستانه بغیردده نه نشم بچ کیدې.اللہ ﷻ اوفرمانیل واوره ادستاچه به څومره اولاد کیږی دهغه سره به یومحافظ مقررکړم چه هغه به دشیطان دپنجې نه محفوظ وی.حضرت ادمﷺ اوفرمانیل نور زیات،اللہ ﷻ اوفرمانیل یوه نیکی به په لس چنده ورکوم.اویوه ګناه به نې هم یوه حسابیږی یابه نې معاف کړم.ادمﷺ بیاهم خپله دعاجاری اوساتله،اللہ رب العزت اوفرمالیل چه د توبې دروازه به د ستا دپاره هغه وخت پورې کهلاوُوی ترڅوچه دې بدن کښی روح وی.حضرت ادمﷺ دعا اوکړه یااللہ ماته نورهم څه راکړه.اللہ ﷻ ورته دایت اولوستلوچه زماګناه ګاروته اووایه چه زمادرحمت نه دې نه مایوسه کیږی.(ابن ابی حاتم)

دحضرت عمرفاروقﷺ په حدیث کښی دی چه کوم خلق دکمزورې په وجه باندې دکافرانو تکلیفونه نه برداشت کولوپه وجه دخپل دین په فتنه کښی پریوتلومونږدهغه باره کښی خپلوکښی وایو چه اللہ ﷻ د هغه څه نیکی اوتوبه نه قبلوی.دې خلقواللہ ﷻ اوپیژندلواوبیانې کفراو کړو او د کافرانو سختی نې برداشت نه کړه.کله چه حضورﷺ مدینې ته راغې نواللہ ﷻ ددغه خلقوباره کښی ددې قول تردید اوکړو ﴿قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا﴾ نه ترد ﴿لَا تَشْعُرُوْنَ﴾ پورې ایتونه ئې نازل کړل.

عمر فاروقﷺ فرمائی ما پخپل لاس باندې دایتونه اولیکل اوهشام بن عمروﷺ ته لاړم. هشام بن عمروﷺ فرمائی چه هغه وخت په ذی طوی کښی ووم.مادابارباراولوستل اوښه غور اوفکرمې اوکړو. خو اصلی مطلب پورې مې ذهن اونه رسیدواخرمې دعااوکړه چه یااللہ ددې ایتونو مطلب اوددې زما طرف ته رالیږلوصحیح مقصدپه ما باندې واضح کړه.نوداللہ ﷻ دطرف نه زماپه زړه کښی واچولې شو چه ددې ایتونونه مرادهم مونږ یو دا زمونږ باره کښی دی اوزمونږچه داخیال دې چه اوس زمونږتوبه نشی قبلیدې هم دې باره کښی نازل شوی دی.هم هغه وخت زه واپس شوم اوخپل اوښ باندې سورشوم اونیغ لاړم درسول اللہﷺ په خدمت کښی حاضرشوم.(سیرت ابن اسحاق)

قوله تعالی:: وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ

د مایوسئ ختمولو نه پس ترغیب:: دبندګانومایوسی ختمول اوهغوی ته دبخنې طمع ورکولونه پس حکم اوکړو اورغبت نې ورکړوچه هغوی توبې اونیك عملونوطرف ته راشی اومخکښی شی داسې نه وی چه د اللہ ﷻ عذاب راشی چه هغه وخت به دهغوی دمددڅوك نه وی.اودهغوی ته پکاردی چه دعظمت والا قران کریم تابعداری اوکړی اوددې په ماتحتې کښی مشغول شی ددې نه مخکښی چه یوناسا په عذاب راشی.اودوی په بې خبرئ کښی وی.هغه وخت به دقیامت په ورځ بې توبې مړه شوی اوداللہ ﷻ په عبادت کښی کمی کولووالابه ډیرافسوس کوی اوخواهش به کوی چه کاش مونږدخلوص سره داللہ ﷻ حکمونه منلې وی.افسوس!چه مونږته یقین نه وو.داللہ ﷻ د خبرو تصدیق مواونه کړوبلکه هغه به مو هسې ګپ شپ ګڼلو.اووائی به که مونږهم هدایت موندلې وو نو یقینا په دنیاکښی داللہ ﷻ د نافرمانو اوپه اخرت کښی به دهغه دعذاب نه بچ شوی وو.اوعذاب لیدلو سره به وائی که اوس بیادنیاته تلل ملاوُنشی نودزړه داخلاص سره به نیکیانې کوو.

قوله تعالی:: اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ

حضرت ابن عباسﷺ فرمائی چه بندیان څه عمل اوکړی اوهغوی څه وائی؟دهغوی دعمل اوقول نه مخکښی اللہ ﷻ هغوی ته خبرورکړې دی اودهغه نه زیات خبروالا څوك کیدیشی؟اونه دهغه نه زیات ربستیاخبرڅوك ورکولې شی.دبدکارانودادرې خبرې بیان شوې اوبل ځانې کښی داخبرورکړې دې که دوی واپس دنیاته اولیږلی شی نوبیابه هم هدایت اختیارنه کړی بلکه دکوم کارونونه چه منع کړی شی

Scanned with Ca

هغه به کوی اودلته چه څه وائی ټول به دروغ شی.مسنداحمدپه حدیث کښی دی چه هردوزخی ته به د هغه جنت اوخودلې شی هغه وخت کښی به هغه وائی کاش چه الله ﷻ ماته هدایت راکړې وی.داځکه چه هغه ته حسرت اوافسوس به وی اوهم دغه شان به هرجنتی ته په دوزخ کښی دهغه ځائې اوخودلې شی.هغه وخت به هغه وائی که الله ﷻ ماته هدایت نه وی کړې نوزه جنت ته نه شوم راتلې ځکه چه هغه په شکراواحسان منلوکښی نورهم مخکښی شی.چه کله به ګناه ګارخلق دنیاته دواپس راتلوخواهش کوی اود الله ﷻ دایتونونه منلوحسرت به کوی اودالله ﷻ درسولانونه منلوباندې به خفګان کوی نوالله ﷻ سبحانه ﷻ به فرمائی چه اوس خفګان اوشرمیدل بې کاره دی په دنیاکښی مې درته خپل ایتونه رالیږلی دی.خپل دلیلونه مې درته قایم کړی ووخوتاسوبه هغه دروغ ګنړل اودهغوی دتابعدارې نه به موکبرکولواودهغې نه منکروې.کفرمواختیارکړواوس څه هم نشی کیدې.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ
اوپه ورځ دقیامت به | ته اوویني |هغه کسان|چی دروغ ئې ترلې دی| په الله پوری| مخونه دهغوئ به
اودقیامت په ورځ به ته دهغه کسانو مخونه تک تور اوویني | چې په الله ﷻ ئې دروغ ترل
مُّسْوَدَّةٌ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾ وَيُنَجِّي اللّٰهُ
تور وی | آیا نشته | په دوزخ کښی | ځائې | دپاره دتکبر کونکو خلقو|او خلاصې به ورکړی الله
آیا د متکبرو خلقو ځائې په دوزخ کښې نه دې | ..... او (چا چې د کفر او ګناه نه)
الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ ۫ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ
هغه کسانوله|چی پرهیزګاران وی|په سبب دکامیابئ دهغوئ | نۀ به رسی هغوئ ته | تکلیف (سختی
ځان بچ اوساتلو|الله ﷻ به هغوئ ته په کامیابئ سره (ددوزخ) نه نجات ورکړی | (هلته) به هغوئ ته
وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۱﴾
او نۀ به هغوئ غمژن کیږی |
هیڅ تکلیف نه رسی | اونه به غمژن شی

قوله تعالی:: وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ

کبرګونکی په دوزخ کښی او ددوئ بد حالت ::دقیامت په ورځ په دوه قسمه خلق وی.دتورمخ والااونورانی مخ والا.دفرقت اواختلافاتو والا مخونه خوبه توروی اوداهل سنت والجماعت شکلونه به خائسته نورانی وی دالله ﷻسره شریك جوړولووالااودهغه دپاره اولاد پیدا کولووالاخوبه وینی چه دهغوی د دروغواوالزامونوپه وجه باندې دهغوی مخونه توروی اوحق نه قبلولواوکبراوخان خودنې په وجه باندې به هغوی دوزخ ته اوغورځولې شی.چه هلته به ډیرذلت سره هغوی ته سختې سزاګانې ورکولې شی.

دابن ابی حاتم مرفوع حدیث کښی دی چه دکبرکولووالاحشربۀ قیامت کښی دمیږوپه شان وی د وړوکی نه وړوکی مخلوق به هم هغوی باندې خپې ایږدی تردې چه ددوزخ په جیل خانه کښی به قید کړې شی چه دهغې نوم بولس دی چه دهغې اوږدیرتیزاومصیبت والادې ددوزخیانووینې اوپیپ به په هغوی باندې اوڅکلې شی.اودالله نه ویریدونکی خلق به خپلې کامیابې اوفرمانبرداری په وجه ددې عذابونو نه اودې ذلت اووهلونه بالکل بچ وی هیڅ بدی به دهغوی خواه ته نشی ورتلې.ویره اوغم به د قیامت په ورځ عام وی هغه به ددوی نه لرې وی.دهرغم نه بې غمه اوهریوې ویرې نه بې ویرې اوهرې

Scanned with Ca

سزانه خلاص اودهردردنه به لري وی. هغوی ته به څوك وینانه کوی په امن اوراحت اوسکون سره به ورته د الله ﷻ ټول نعمتونه حاصل وی.

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
	الله پیدا کونکي دي	دهر څیز	او هغه په هر څیز باندي
|.....هم الله ﷻ دهر څیز پیدا کونکي دي
وَّكِيْلٌ ۝ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
نظرساتونکي دي |هغه لره دی	کنجیاني دآسمانونو	او دزمکي |اوهغه کسان |چی کفر ني او کړو
اوهم هغه په هرڅیزباندي نګران دي |دآسمانونواو زمکي کنجیاني هم دهغه په اختیار کښي دی
بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ
دآیتونو دالله سره	دغه کسان چی دی	هم دوئ په نقصان کښی دی |ورته اووایه| آیا نو بي دالله نه
اوڅوک چي دالله ﷻ دآیتونونه انکار کوی |هم هغوئ په تاوان کښي دی| (ائي پیغمره) ته ورته اووایه
تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اُوْحِيَ
تاسو حکم کوئ ماته	چی بندګی اوکړم دبل چا	اے نا پوهانو	او بي شکه وحی کړي شوی ده
ائي جاهلانو آیا تاسو بیاهم ماته د نورچا دعبادت فرمائشونه کوئ ؟	او بیشکه چي تاته
اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ
تاته |او هغه کسانو ته	چی مخکښی ستا نه ووُ	که چری شرك اوکړو تا	نو خامخا به ضائع شی
ستا نه وړاندي نور پیغمبرانوته هم وحی لیږلي شوې وه| (ائي بنیادمه) که تاشرک اوکړو نوټول عملونه به دي
عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ
عمل ستا |او خامخا به شي ته	دتاوانیانو نه	بلکه دالله	پس بندګی کوه ته
برباد شی	او په تاوان کښي به اوغورزیږي	.....ته خو بس صرف د یو الله ﷻ عبادت کوه
وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝
او شه دشکرایستونکو نه
اودهغه شکرګزارو کښي شامل شه|

قوله تعالی:: اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ دهرقدرت مالک الله ﷻ -دټولوژوندواومړوڅیزونومالك خالق اواختیارمندصرف الله ﷻ دي. هر یو څیز دهغه ماتحت اودهغه په قبضه کښی دي.دهرچاکارسازاووکیل دي دټولوکارونوپوره کول دهغه په لاس کښی دی.دزمکي اسمان دخزانوچابیانوهغه یواځي مالك دي.دحمداوثناء لائق اوپه هریوڅیزباندي هغه قدرت لرونکي دي.کفراوانکارکولووالاپه سخت تاوان کښی دی.امام ابن ابی حاتم دلته یوحدیث بیان کړي دي،اګرچه دسندپه لحاظ باندي غریب دي بلکه په صحت کښی هم کلام شته خوهغه دلته ذکر کوو.په دي کښی دی چه حضرت عثمان ﷺ رسول الله ﷺ نه ددي ایت دمطلب تپوس اوکړونورسول الله ﷺ اوفرمائیل اي عثمان دستانه مخکښی زمانه ددي ایت دمطلب تپوس چانه ووکړي.

Scanned with Ca

ددې ایت تفسیر دادې. لااله الاالله والله اکبر سبحان الله وبحمده واستغفرالله ولاقوة الابالله الاول والاخر والظاهر والباطن بیده الخیر یحی ویمیت وهوعلی کل شیئ قدیر ای عثمان کوم کس چه دسحر دا لس خله اولولئ نوالله ﷻ هغه ته شپږ فضیلتونه ورکړی.اول خوهغه دشیطان اودهغه دلشکرنه بچ شی.دویم هغه ته یوقنطار اجرملاوشی.دریم په جنت کښی دهغه یوه درجه اوچته شی.څلورم دهغه حورعین سره نکاح اوشی.پنځم هغه ته دولس فرښتې راشی.شپږم هغه ته دومره ثواب ملاوشی لکه چه څوك قران تورات انجیل اوزبور اولولئ .بیا د دې سره هغه ته دیوقبول شوې حج اویوقبولې شوې عمرې ثواب هم ملاویږی اوکه په هغه ورځ دې مړ شی نودشهادت درجه ورته ملاویږی.داحدیث ډیرزیات غریب دې اوپه دې کښی ډیرې لوې خبرې دی.

قوله تعالی:: قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ۝

د مشرکانو د رسول کریم ﷺ نه مطالبه او نبی کریم ﷺ جواب:: ابن عباس رضی الله عنه فرمائی مشرکانو حضور ﷺ ته اووئیل چه راځه ته زمونږ معبودانوته عبادت کوه او مونږ به ستاسو ته سجدې کوو.په دې باندې آیت ﴿قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ﴾ نه ترد ﴿مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝﴾ پورې نازل شو هم دامضمون په دې ایت کښی هم دې.﴿وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝﴾ مخکښی دنبیانو علیهم السلام ذکردې بیافرمائیلی دی.که بالفرض دا نبیان هم شرك اوکړی نوددوی ټول عملونه به ضائع شی دلته ئې هم فرمائیلی دی چه ستاطرف ته اوستانه مخکښی ټولونبیانوته مونږوحی لیږلی وه چه څوك شرك کوی نودهغه عملونه غرق شول اوهغه دنقصان والا او ریاکارشو.نوتاته پکاردی چه ته دخلوص سره دالله ﷻ واحدلاشریك رب عبادت کوه اودهغه شکر ادا کوه.ته هم اودستامنولووالامسلمانان هم.

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ				حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ
اوونه کړو قدر(تعظیم)دوئ دالله الکه څنګه چی حق دې دقدرکولو دهغه				
اخو دې خلقو د الله ﷻ هغسې قدر اونه کړلو څنګه چې پکار وو				
وَالْاَرْضُ	جَمِيْعًا	قَبْضَتُهٗ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ	وَالسَّمٰوٰتُ
او زمکه	ټوله	به په موټی دهغه کښی وی	په ورځ دقیامت	آسمانونه به
ددې باوجود چې دقیامت په ورځ به ټوله زمکه دهغه په موټی کښې وی اوټول آسمانونه به				
مَطْوِيّٰتٌۢ	بِيَمِيْنِهٖ ؕ	سُبْحٰنَهٗ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا
نغښتلې شوی وی	په ښی لاس دهغه کښی	پاکی ده هغه لره	اواوچت دې	دهغې نه
دهغه په ښی لاس کښې رانغښتی وی	.....	هغه دپاره پاکی ده	اوددوئ جوړ کړی	
يُشْرِكُوْنَ ۝				
چې دوئ ئې ورسره شریکوی				
شرک نه ډیر اوچت دې				

قوله تعالی:: وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ

مشرکانو دالله ﷻ مقام نه پیژندلی:- مشرکانوته په اصل کښی دالله ﷻ مقام اوعظمت معلوم نه دې په دغه وجه به هغوی دالله ﷻ سره نورخلق شریك کوی دهغه نه زیات عزت اوزیات بادشاهت والااودهغه نه زیات غلبې اوقدرت والابل څوك نشته.نه دهغه څوك برابرشته.داایت دقریش دکافرانوباره کښی نازل شوې دې که هغوی سره قدروې نوهغوی به دهغه هریوه خبره غلط نه ګڼله کوم کس چه الله ﷻ په

Scanned with Ca

هرڅیزباندې قدرت لرونکې اومنی چاچه دالله عظمت اوکړواودچاچه داعقیده نه وی نوهغه دالله ﷻ قدرنه کوی.ددې ایت باره کښی ډیرحدیثونه دی.ددې قسمه ایتونوباره کښی دبزرګانومسلك دادې چه څنګه اوپه کوموالفاظوکښی داایت راغلې دې هم هغه الفاظوکښی دامنل اوپه دې باندې ایمان راوړل ،نه چه ددې وجه معلومول اوپه دې کښی تبدیلې کول.صحیح بخاری کښی ددې ایت په تفسیرکښی دی چه دیهودیانویوډیرلوی عالم حضورﷺ ته حاضرشواواوئې وئیل چه مونږته لیکلی راغلی دی چه الله ﷻ به ټول اسمانونه په یوه ګوته باندې کیدی اوټولې زمکې به په یوه ګوته باندې کیدی اوټولې ونې به یوه ګوته باندې کیدی اوبه او خاوره په یوه ګوته باندې اونورټول مخلوق به یوه ګوته باندې کیدی. بیا به اوفرمائی چه زه دټول مخلوق مالك یم اورښتونې بادشاه یم.حضورﷺ ددې خبرې په رښتیاوالی باندې په خنداشوتردې چه دحضورﷺ اورئ ښکاره شوې.بیاحضورﷺ ددې ایت تلاوت اوفرمائیل. د مسندپه حدیث کښی هم دغه شان دی.په هغې کښی دی چه رسول اللهﷺ په خنداشواوالله ﷻ په داایت نازل کړو.اوروایت کښی دی چه هغه په خپلوګوتوباندې وئیل اول هغه دکلمې ګوته اوخودله .په دې روایت کښی دځلوروګوتوذکردې.

صحیح بخاری کښی دی چه الله ﷻ به زمکه په قبضه کښی کړی اواسمان به پخپل ښی لاس کښی واړی اوبیابه فرمائی زه بادشاه یم،کوم ځائې دی دزمکې بادشاهان؟دمسلم په حدیث کښی دی چه زمکې به دالله ﷻ په ګوته وی اواسمان به ئې په ښی لاس کښی،بیابه فرمانی زه بادشاه یم.

یوروایت کښی دی چه ابن عمرﷺ ددې پوره حالت خودلې دې چه څنګه حضورﷺ هغه ته حکایت کړې وو،چه الله ﷻ به زمکې اواسمانونه په لاس کښی واخلی اواوبه فرمائی چه زه بادشاه یم خپلې ګوتې به ئې کله کولاووی،کله به ئې بندوی اوحضورﷺ هغه وخت حرکت کولوتردې چه دحضورﷺ حرکت سره ټول منبراوخوزیدواوزه ویریدم چه حضورﷺ دهغې نه اونه غورځیږی.دبزارپه روایت کښی دی چه حضورﷺ داایت اولوستلواومنبرپه خوزیدوشواوحضورﷺ درې ځله لاړوراغلو.والله اعلم.دمعجم کبیر طبرانی یوغریب حدیث دې چه حضورﷺ دصحابیانویوجمات ته اوفرمائیل نن تاسوته دسوره زمراخری ایتونه واوړوم چه په هغې باندې چاته ژړاراشی.هغه جنتی شو.اوس حضورﷺ ددې ایت نه دسورت اخره پوره تلاوت اوفرمائیلوبعض په ژړاشوئ اوبعضوته ژړاورنغله هغوی اووئیل یارسول اللهﷺ مونږ ډیر ګوشش اوکړوچه اوژاړوخومونږته ژړارانغله حضورﷺ اوفرمائیل ځئ زه به لولم چاته چه ژړانه ورځی هغوی دې د ژړاشکل جوړکړی اوپه زوردې اوژاړی.یوددې نه زیات غریب حدیث کښی دی چه الله ﷻ فرمائی مادرې ځیزونه دخپل بندګانونه پټ کړی دی که دوی هغه لیدلې وې نوځه بدی به ئې هم نه وه کړې.(۱)که ماپرده لرې کړې وې اودوی زه لیدلې وې نودایقین به ئې کړې ووچه زه خپل مخلوق سره څه کوم چه کله دهغوی خواه ته راشم اواسمانونه په خپل لاس کښی واخلم اوزمکې پخپل متی کښی بندکړم بیاووایم چه زه بادشاه یم زمانه علاوه څوك مالك شته؟(۲)بیازه هغوی ته جنت اوبنایم اوپه هغې کښی چه څه ځیزونه دی هغه ددوی مخې ته کړم اوهغوی دیقین سره داوینی.(۳)زه دوی ته دوزخ اوبنایم اودهغې عذابونه ورته اوبنایم تردې چه هغوی ته یقین اوشی.خومادا ځیزونه په قصدباندې پټ ساتلی دی چه ماته پته اولږی چه.هغوی ماځنګه پیژنی ځکه چه ماداټولې خبرې بیان کړی دی.ددې سندمتقارب دې اوددې نسخې نه ډیرحدیثونه روایت کیږی.والله اعلم.

وَنُفِخَ	فِي الصُّوْرِ	فَصَعِقَ
اوپوکې به اوکړې شی اپه صور(شپیلۍ) کښیاپس دبې هوشۍ سره به مړه راپریوزی		
او شپیلۍ به پوک وهلې شی ا .....نو د اسمان او زمکې		

Scanned with Ca

مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَنْ	فِي الْأَرْضِ	إِلَّا مَنْ
هغه څوك | چې په اسمانونو کښې دی | او هغه څوك | چې په زمکه کښې دی | ماسوا | دهغه چانه |				
په مینځ کښې چې څومره مخلوق دې ټول بهٔ بې هوشه شی | خو څوك چې الله ﷻ (بچ ساتل) اوغواړی				
شَآءَ اللّٰهُ ؕ	ثُمَّ نُفِخَ	فِيْهِ	أُخْرٰى	فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ
چې اوغواړی الله | بیا به پوکې اوکړې شی | په هغې کښې | بل ځل | پس یودم به هغوئ | ولاړ وی				
بیا به په دویم ځل شپیلئ پوک وهلې شی |..... نو ټول به راپاڅی | .....او کتل به کوی |				
يَنْظُرُوْنَ ۝۶۸	وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ	بِنُوْرِ رَبِّهَا	وَوُضِعَ الْكِتٰبُ	
اوګوری به | اوروښانه به شی | زمکه | په نور درب خپل سره | او کیښودې به شی کتاب |				
..... |اوزمکه به دخپل رب په نور باندې روښانه شی|او عملنامه بهٔ (مخامخ) کیخودلې شی				
وَجِايْٓءَ	بِالنَّبِيّٖنَ	وَالشُّهَدَآءِ	وَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ
او رابه ویستې شی | پیغمبران | او ګواهان | او فیصله به اوکړې شی | په منځ دهغوئ کښې |				
اوپیغمبران او (نور) ګواهان به حاضر کړې شی | اودخلقو په مینځ کښې به په انصاف سره فیصله				
بِالْحَقِّ	وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝۶۹	وَوُفِّيَتْ	كُلُّ نَفْسٍ	مَّا
په حقه سره | او دهغوئ سره په ظلم نهٔ کیږی | او پوره به ورکړې شی | هر نفس ته | هغه |				
اوکړې شی | اود ذرې بر ظلم به پرې اونکړې شی | اوهر یو کس ته به د خپلو عملونو پوره پوره				
عَمِلَتْ	وَهُوَ أَعْلَمُ	بِمَا	يَفْعَلُوْنَ ۝۷۰ ع	
چې کړی وی هغه | او هغه ښه پوهیږی | په هغه څه | چې کوی ئې دا خلق |				
بدله ملاو شی | اودوی چې څه کوی الله ﷻ ته ټول په ښه شان معلوم دی |				

قوله تعالی:: وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ

دقیامت سختئ:- دقیامت دسختوا ودهغې ددهشت اوویرې ذکرکیږی چه شپیلې به اووهلې شی.دابه دویم شپیلې وی چه په هغې به ټول راژوندی شی که هغه په زمکوکښې دی اوکه په اسمانونو کښې.خو چه څوك الله ﷻ غواړی.دشپلی مشهورحدیث دې چه بیابه دنورو روحونه واخستلې شی تردې چه د ټولو نه اخره کښې پخپله دملك الموت روح هم واخستلې شی.اوصرف الله ﷻ به باقی پاتې شی چه هغه حی وقیوم دې اوداول نه وواوداخره پورې به پاتې شی.بیابه اوفرمائی چه نن دچابادشاهت دې؟دې ځله به هم دااوفرمائی.بیابه پخپله ورکړی چه دواحدقهارالله.زه یواځې یم چه ماهر یو څیز پخپله ماتحتې کښې ساتلې دې.نن ماټول ختم کړل.

دټولو نه اول به اسرفیل ﷺ ژوندې کیږی:- بیابه الله ﷻ خپل مخلوق دبیاژوندی کیدلو حکم اوکړو. د ټولونه مخکښې به اسرافیل ﷺ ژوندې کړې شی اوهغه ته به حکم اوکړی چه شپیلې اووه.دابه دریم شپیلې وی چه په هغې باندې په ټول مخلوق کوم چه مړه ووژوندی شی چه دهغې بیان په دې ایت کښې دې چه شپیلې به اووهلې شی نوټول خلق به راپاسی اونظرونه به کوی یعنی دقیامت زړه خوزونکی حالت ته به ګوری.څنګه چه فرمانیلی دی ﴿فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ﴾ یعنی هغه

Scanned with Ca

خوبه یوسخت اوازوی چه دهغې په وجه باندې به ټول خلق زرمیدان ته راشی.اوپه ایت کښی دی.﴿يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ﴾ یعنی په کومه ورځ چه به الله ﷻ تاسو راوغواړی.نوتاسوټول به دهغه حمداوثناء سره دهغه اوازاومنئ اوددنیاڅوندبه کم اوګنړې.دالله ﷻ په یوبل ځائې کښی ارشاد دې.﴿ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ تَقُومَ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ﴾ دهغه په نښوکښی د زمکې اواسمان دهغه په حکم باندې قائم اوسیدل دی،اوبیابه چه کله هغه تاسوته دزمکې نه اواز اوکړی نوتاسوټول به یوځل باندې راوځې.مسنداحمدکښی دی چه یو کس حضرت عبدالله بن عمروته اووئیل چه تاسوفرمایئ چه دومره دومره وخت پورې به قیامت راځی. هغه ترې خفه شواوئې وئیل چه زړه مې غواړی چه تاسره هیڅ خبرې هم نه کوم.ماخووئیلی ووچه په لږ وخت کښی به تاسوحکم وینئ. بیا ئې اوفرمائیل چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه زمابه امت کښی به دجال راځی اوهغه به څلویښتوپورې وی.ماته پته نشته چه څلویښت ورځې که څلویښت میاشتې که څلویښت کاله اوکه څلویښت شپې،بیابه الله ﷻ عیسی ابن مریم علیهماالسلام راولیږی. هغه به په شکل اوصورت کښی بالکل دعروه بن مسعودثقفی﵁ په شان وی.الله ﷻ به هغه غالب کړی اودجال به دحضرت عیسی﵇ په لاس باندې قتل کړې شی بیابه اووه کاله خلق دهغه سره ملاؤوی او په ټوله دنیاکښی به دیوبل سره څه خفګان نه وی.بیابه الله ﷻ دشام دطرف نه یوه یخه هواراوالوخوی چه په هغې باندې به دټولوایمانداروته روح واخستلې شی تردې چه دچاپه زړه کښی دوری هومره ایمان هم وی هغه به هم وفات شی.دوی که هرځاني کښی وی تردې که دغره په لمن کښی هم څوک مسلمان وی نوداهوابه هلته هم اورسی.مادادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی بیابه بدترین خلق پاتی شی،چه هغوی به په ځپل رذالت کښی دمرغوپه شان سپک اوپه بې وقوفې کښی دځناورپه شان بې وقوف وی.نه به ښه والې ښه ګنړی اونه به خرابې خراب ګنړی.هغوی ته به شیطان ښکاره شی اووائی به چه شرمیږئ نه چه تاسویتانوته سجدې پریخودې،نوهغوی به دهغه په دهوکه کښی راشی اوبتانوته به سجدې شروع کړی په دې حالت کښی به الله ﷻ دهغوی په رزق کښی زیاتوالې راولی.بیابه شپیلئی اووهلې شی چه د چا غوږونوته دااوازرسی هغه به هم هلته اودریږی اوبیابه اوغورځیږی.دټولونه مخکښی چه به دااوازدکوم کس غوږونوته رسی هغه به خپل حوض جوړوی هغه ساعت به بې هوشه شی اوپه زمکه به رااوغورځیږی اوخان به ترې هیرشی.بیابه الله ﷻ باران شروع کړی چه هغه به دپرځې په شان وی،دهغې په وجه باندې دخلقوبدنونه راوخیژی.بیابه دویم شپیلنی اووهلې شی بیابه ژوندی کړې شی اوګتل به کوی.بیابه اووئیلی شی چه اې خلقوادخپل رب طرف ته راشئ،دوی اودروئ دوی نه به سوالونه کیږی.بیابه اوفرمائیلې شی چه دوزخ حصه ترې بهرکړئ.تپوس به اوشی څومره؟دزرونه نهه سوه اونهه نوی.داورځ به وی چه ماشومان به بوډاګان شی اوهم دغه ورځ به وی چه په کومه ورځ به پنډئی کولاویږی.(صحیح مسلم) صحیح بخاری کښی دی ددواړوشپیلومینځ کښی به څلویښت وی دحدیث روایت کونکی ابوهریره﵁ نه تپوس اوشوچه څلویښت ورځی؟اوئې فرمائیل چه زه جواب نه شم درکولې.تپوس ترې اوشوچه څلویښت کاله اوئې فرمائیل زه ددې جواب نه درکوم تپوس اوشوچه څلویښت میاشې؟اوئې فرمائیل زه د دې جواب هم نه شم درکولې.دانسان هریوځائې به خراب شی خودملاهډوکې،ددې نه د انسان ترکیب کولې شی.

د﴿ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ﴾ **نه څوک مراد دی ؟**:ابویعلی کښی دی درسول الله ﷺ دجبرائیل﵇ نه تپوس اوکړو چه پدې ایت کښی کومه استثناءده یعنی چه څوک الله ﷻ غواړی دهغه خلقونه څوک مراددی؟اوې فرمائیل شهیدان دوی به خپلې توري نیولی وی اودالله ﷻ عرش نه به ګیرچاپیره وی.فربښتې به دوی په خپل حصارکښی دوی دمحشرطرف ته بوځی.دیاقوت په اوښانویه سواره وی چه دهغې ګدې به دربښمونه هم زیاتې نرمې وی.دانسان نظرچه دکوم ځائې پورې کارکوی،دهغې به یوقدم وی په جنت کښی به

Scanned with Ca

دوی خوشحاله وی،هلته به په ارام سره وی دهغوی په زړونوکښی به راځی چه راځئ چه اوګورواللہ ﷻ دخپل مخلوق فیصلې کوی.نودهغویطرف ته کتلوسره به اله العالمین په خنداشی،اوکوم ځانې کښی به چه اللہ ﷻ په خنداشی هلته به حساب کتاب نه وی.ددې ټول روایت کونکی اعتبار والادی. خود اسماعیل بن عیاش استاذمشهورنه دې.واللہ اعلم.دقیامت په ورځ چه به کله اللہ ﷻ دخپل مخلوق فیصلودپاره راشی نوهغه وخت به دهغه دنورپه وجه باندې ټوله زمکه اوپرقیږی،عمل نامې به راوړلې شی،نبیان به پیش کړې شی چه هغوی ګواهی ورکړی چه هغوی خپلوامتونوته تبلیغ کړې دې، او د بندیانودنیك اوبدعملونومحافظې فرښتې به راوستلې شی،اوپه عدل اوانصاف سره به د مخلوق فیصلې اوشی.اوپه چاباندې به هیڅ قسمه ظلم نه کیږی.ځنګه چه فرمائیلی دی.﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ﴾ یعنی د قیامت په ورځ به مونږدانصاف تله قائم کړواوپه چاباندې به ظلم نه کوو، اګرکه ووری ددانې هومره عمل وی مونږبه هغه هم موجودکړواومونږدحساب اخستلو والا کافی یو.اوپه ایت کښی دی چه اللہ ﷻ دیوې ذرې هومره ظلم هم نه کوی هغه نیکیانې زیاتوی اودخپل طرف نه لوې اجرورکوی.په دې وجه دلته هم ارشادشوې دې چه هریوکس ته به دهغه دخراب اوښه عمل پوره پوره بدله ورکړې شی.هغه ته هریوکس دعملونوپته ده.

وَسِيْقَ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِلٰى جَهَنَّمَ	زُمَرًا ؕ	حَتّٰٓى	اِذَا
اواوبه شړلې شی هغه کسان	چی کفر ئې کړې وؤ	دوزخ ته	ډلې ډلې	اتر دې پورې	چی کله
او کافران به ټول دوزخ طرفته اوشړلی شی	.....	څه وخت چې دوزخ ته ورنزدې شی			
جَآءُوْهَا	فُتِحَتْ	اَبْوَابُهَا	وَقَالَ	لَهُمْ	
راشی هغوئ دوزخ ته	نو بیرته به کړې شی	دروازې دهغې	اووائی به	هغوئ ته	
نودهغې دروازې به ورته پرانستې شی	اود دوزخ محافظان به اووائی	چې			
خَزَنَتُهَآ	اَلَمْ يَاْتِكُمْ	رُسُلٌ	مِّنْكُمْ	يَتْلُوْنَ	عَلَيْكُمْ
کارندګان ددوزخ	ایا نه وؤ درغلی تاسو ته	رسولان	ستاسو نه	چی لوستل به ئې	په تاسو باندې
ایا تاسو ته د خپل قوم نه پیغمبران نه وو راغلی	چې د خپل رب ایتونه ئې درته اورولی وې				
اٰيٰتِ رَبِّكُمْ	وَيُنْذِرُوْنَكُمْ	لِقَآءَ	يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ	قَالُوْا	
ایتونه درب ستاسو	اویرولئ به ئې تاسو	دملاقات	ددې ورځې ستاسو نه	اوبه وائی هغوئ	
اوتاسو ئې ددې ورځې د راتلو نه ویروولی وئ	.....	هغوئ به اووائی چې			
بَلٰى	وَلٰكِنْ	حَقَّتْ	كَلِمَةُ الْعَذَابِ	عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝	
هو راغلی وؤ	ولیکن	ثابته شوه	خبره د عذاب	په کافرانو باندې	
ولې نه ،	.....	خود عذاب وعده اخر په کافرانو باندې پوره شوه			
قِيْلَ	ادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ	جَهَنَّمَ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا ۚ	فَبِئْسَ
اوبه وئیلې شی ورته	ننوزئ دروازو	د دوزخ ته	همیشه به یئ	په هغې کښی	پس ډیر بد دې
ورته به اووئیلې شی چې (څئ اوس) ددوزخ په دروازو وردا خل شئ		همیشه به په کښې پراته یئ			

Scanned with Ca

مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾	
خائې داوسیدو ا	دتکبر کونکو ا
د متکبرو خلقو د استوګنې ځائې ډیر خراب دي ا	

قوله تعالیٰ:: وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا ؕ

ددوزخیانو بدل حالت او ددوئ نه دجهنم د څوکیدارانوسوال.دبدنصیبوکافرانواوحق نه منکروخلقودحالت بیان دي چه هغوی به دځناوروپه شان رسواوویناخوری اوددوزخ طرف ته به اولیږلې شی.څنګه چه په بل ایت کښی دی.یدعون لفظ دې دیکې به ورکولې شی اوسخت تړی به وی،څنګه چه الله ﷻ فرمائیلی دی.﴿یَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِیْنَ﴾ الخ، په کومه ورځ چه مونږپرهیزګاران دالله ﷻ میلمانه راجمع کړواوګناهګاران به د دوزخ طرف ته تړې اولیږلې شی.ددې نه علاوه به ګونګیان،کانړه اوړانده وی اومونږبه ئې التیه دوزخ ته راکاږو.څنګه چه فرمائیلی دی.﴿وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ﴾ دقیامت په ورځ به مونږدوی التیه دوزخ ته راکاږو دوی به ګونګیان اوکانړه او ړانده وی. ددوی ځائې دوزخ دې چه دهغې اورکله یخیږی نومونږبه هغه نورهم تیزکړو.دوی چه نزدی ورشی نودروازې به کهلاؤکړې شی.چه زرورته داورعذاب شروع شی. بیابه هلته محافظې فرښتې دشرمولودپاره به ورته په غصه کښی وائی،ځکه چه په هغوی کښی رحم کول نشته اوسختې کولووالااوهروخت غصه کښی وی اوډیرزیات وهل کولووالادی،چه تاسوته هم ستاسوپه شان دالله ﷻرسولان نه ووراغلی؟چه دهغوی نه تاسوتپوسونه کړی وو.خپل اطمینان او تسلی موکړې وه دهغوی خبروباندې پوه شوې وئ.دهغوی په محفل کښی کیناستې شوئ.هغوی تاسوته دالله ﷻ ایتونه اولوستل،په خپل راوړلی رښتونی دین باندې تاسوته دلیلونه درکړل.تاسوته ئې ددې ورځې دخرابونه خبرکړې،اوددې عذابونونه ئې ویرولئ.

قوله تعالیٰ:: قَالُوْا بَلٰى

دکافرانو جواب او اقرار:: کافربه اقرارکوی چه اودارښتیادی بې شکه دالله ﷻ پیغمبران مونږته راغلی وو اودلیلونه ئې هم قائم کړی وواومونږته ئې ډیرځه وئیلی دی اوویرولې هم ووخومونږدهغوی یوخبره هم اونه منله اودهغوی مقابله موکوله،ځکه چه زمونږپه قسمت کښی بدبختیا وه مونږ ازلی بدبخت یو.دحق نه مومنځ واړولو اود باطل طرفدارشو څنګه چه دسوره تبارك په ایت کښی دی چه کله به دوزخ ته یوه ډله لاړه شی نوهلته به دهغوی نه محافظان تپوس کوی چه تاسوته څوك ویرولووالاته وو د رغلې؟ هغوی به جواب ورکوی چه راغلې خوووخومونږهغه دروغ ګنړلواوورته مواوونیل چه الله ﷻ څه هم نه دی نازل کړې ته په غلطه ئې.که مونږاوریدل یاپوهیدونون به په دوزخ کښی نه وې.یعنی په خپله به خپل خان ملامته کوی دخپلې ګناه اقراربه پخپله کوی.الله ﷻ به اوفرمائی لرې والې اونقصان او لعنت دې وی په دوزخیانو باندې.اوبه وئیلی شی چه کوم کس هم دوی وینی اوددوی داحالت ورته معلوم شی نوهغوی به وائی چه بې شکه دوی هم ددې قابل وو.په دې وجه باندې دویونکی نوم ندې اخستلې اوهغه ئې هم داسې پریخودلې دې چه عام باقی پاتی شی اودالله ﷻ دانصاف ګواهی ورکړی. هغوی ته به اووئیلې شی چه اوس تاسودوزخ ته لاړشئ اودلته دهمیشه دپاره سوزئ ددې ځائې نه به تاسوته خلاصې ملاوتنشی اونه به مړه شې.اوداځومره خراب ځائې دې چه پدې کښی به شپه ورځ سوزیدل وی.داده دستاسو د کبر او حق نه منلوبدله چه هغې تاسودې ځائې ته راورسولې اوهم ددې ځائې ئې کړې.څه خراب حالت دې اوځه عبرتناك نتیجه ده. الله ﷻ دې مونږمحفوظ اوساتی.

Scanned with Ca

وَسِيْقَ	الَّذِيْنَ	اتَّقَوْا		
او روان به کړې شي	هغه کسان	چې ځان به ئې ساتلو دنافرمانۍ		
		اوځوک چې دخپل رب د نیولو نه اوویریدو		
رَبَّهُمْ	اِلَى الْجَنَّةِ	زُمَرًا ؕ	حَتّٰٓى	اِذَا	جَآءُوْهَا
درب خپل نه	جنت ته	ډلې ډلې	تر دې پورې	چې کله	راشي هغوئ دغه جنت ته
هغوئ به ټولی ټولی جنت ته روان کړې شي	څه وخت چې هغې ته نزدې شي				
وَفُتِحَتْ	اَبْوَابُهَا	وَقَالَ	لَهُمْ	خَزَنَتُهَا	
او بیرته کړې شوی به وی	دروازې دهغې	اواوبه وائی	هغوئ ته	انتظام کونکې فرښتې دهغې	
او دروازې به ورته پرانستلې شوی وی	اودهغې محافظان به ورته اووائی				
سَلٰمٌ	عَلَيْكُمْ	طِبْتُمْ	فَادْخُلُوْهَا	خٰلِدِيْنَ ۝	
سلام دې	په تاسو باندې	ډیر ښه شوئ تاسو	پس ننوزئ دې ته	دهمیشه دپاره	
چې په تاسو دې سلام وی	تاسو ښه خلق یئ	نو دې جنت ته د همیشه اوسیدو دپاره وردا خل شئ			
وَقَالُوا	الْحَمْدُ	لِلّٰهِ	الَّذِيْ	صَدَقَنَا	وَعْدَهٗ
اواوبه وائی هغوئ	ثنا ده	الله لره	هغه الله	چې رښتینی ئې کړه زمونږ سره	وعده خپله
هغوئ به اووائی چې ډیر شکر دې	چې الله تعالی مونږ سره خپله وعده په رښتیا پوره کړه				
وَاَوْرَثَنَا	الْاَرْضَ	نَتَبَوَّاُ	مِنَ الْجَنَّةِ		
او په میراث ئې راکړه مونږ ته	زمکه	چې خائې جوړولې شو مونږه	دزمکې دجنت نه		
مونږ ئې ددې زمکې مالکان کړو	چې په جنت کښې کوم ځائې غواړو	نو هلته به			
حَيْثُ	نَشَآءُ ۚ	فَنِعْمَ	اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۝		
هر ځائې کښې	چې غواړو مونږه	پس ډیر ښه دې	اجر دعمل کونکو		
ډیره شو	غرض دا چې د ښه عمل کونکو بدله هم ښه ده				

قوله تعالی:: وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ؕ

دجنتیانو هر کلې اودجنت درجات: مخکښې دبدبختو اودهغوی انجام بیان شوې دې اودلته د فرمانبردارو نتیجه بیانیږی چه په خانسته اوښانوباندې به سواره وی اودجنت طرفته به ځی.ددوی به هم مسجدونه وی،دخاص مقربومسجد ،بیابه دابراراوبیادهغوی نه دکمې درجې والا،بیادهغوی نه دکمې درجې والا. هریوجمات به دخپل مناسب خلقوسره وی.نبیان به نبیانو علیهم السلام سره وی،صدیق به د خپل ځان په شان سره، شهیدان به دخپل ځان په شان سره عالمان به دعالمانوسره،غرض هریوکس د خپل ځان په شان خلقوسره وی.دوی چه به کله جنت ته اورسی دپل صراط نه واوړی هلته به په یوپل باندې اودرولې شی اوپه خپلوکښې چه کوم ظلمونه شوی وی دهغې قصاص اوبدله به اوشی.چه کله به پاک اوصفاشی نوجنت ته به ورته دتلواجازت ملاوشی.دصورپه مطول حدیث کښې دی چه دجنت دروازوته رسیدلوسره

Scanned with Ca

به دوی خپلوکښی مشوره کوی چه ګوري دټولونه مخکښی چاته اجازت ورکولې شی.بیابه دوی د ادم ﷺ قصداوکړی.بیابه دنوح ﷺاوبیادابراهیم ﷺ،بیابه دموسی ﷺبیادعیسی ﷺاوبیاد محمد ﷺ. څنګه چه دحشرپه میدان کښی شفاعت په موقع باندې کړې وه.ددې نه مقصد دمحمد ﷺ فضیلت خانې په خانې بیانول دی.دصحیح مسلم په حدیث کښی دی چه زه رومبې سفارشی یم په جنت کښی.او روایت کښی دی چه هغه رومبې کس یم چه هغه به دجنت دوازه ټکوی.مسنداحمدکښی دی.چه د قیامت په ورځ باندې به زه دجنت دروازه کهلاوم نوهغه خانې څوکیداربه مانه تپوس اوکړی چه ته څوک ئې؟ زه به ورته اووایم زه محمدیم،هغه به وانی چه ماته هم دغه حکم ووچه دستاسوپه راتلوباندې دټولونه مخکښی دجنت دروازه تاسوته کهلاؤکړم.

دجنتیانودخائست یومنظر:-مسنداحمدکښی دی چه دټولومخکښی کومه ډله به جنت ته خی دهغوی مخونه به د څوارلسمې سپوږمئ په شان وی.لاړې،قنړی،متیازې وغیره هلته به هیڅ هم نه وی.دهغوی لوښی او سامانونه به د سرو اوسپینو زرو وی.دهغوی په انګیټوکښی به خانسته خوشبووی اودهغوی خوله به دمشکووی.دهغوی ټولوبه دوه دوه ښځې وی چه دهغوی دپنډې مازغه به دهغوی دخائست او نزاکت اوصفایئ په وجه باندې دغوښی شاته هم ښکاری.په دواړوکښی به هیڅ څه اختلاف اوبغض یا حسدنه وی،دټولوزړونه به داسې وی لکه دیوکس.سحراومابنام به دالله ﷻ تسبیح کښی تیریږی.ابو یعلی کښی دی رومبئ ډله کومه به چه جنت ته ځی دهغوی مخونه به دځوارلسمې شپې دسپوږمې په پرقیږی اودهغې نه روستوډلې مخونه به داسې وی لکه پرقیدونکی ستوری،دامخکښې بیان شوې حدیث په شان دې اوداهم پکښی دی چه دهغوی قدبه شپیته ګزه وی څنګه چه دادم ﷺ قدوو.اوحدیث کښی دی چه زمادامت یوه ډله چه هغې تعدادیازره دې،مخکښی به جنت ته داخل شی دهغوی مخونه به دځوارلسمې سپوږمې په شان پرقیږی.دې اوریدلوسره عکاشه بن محصن ﷺ درخواست اوکړو چه یارسول الله ﷺ دعااوکړه چه الله ﷻ ماهم په هغوی کښی کړی.رسول الله ﷺ دعااوکړه چه الله دې هم د هغوی سره کړه.بیایوانصاری هم دغه عرض اوکړو،رسول الله ﷺ اوفرمائیل عکاشه دستانه مخکښی شو

د اویا زرو بې حسابه جنت ته داخلیدو والا حدیث:-ددې اویازره بې حسابه په جنت کښی داخلیدل په ډیرو کتابونو کښی دسندسره دډیرصحابیانونه روایت شوې دي.بخاری اومسلم کښی دی چه زماامت نه به اویازره یااووه سوه کسان جنت کښی یوځانې داخل شی.دیوبل لاسونه به ئې نیولی وی.ټول به په یوقدم سره جنت داخل شی.دهغوی مخونه به ځوارلسمې سپوږمې په شان وی.ابن ابی شیبه کښی دی ماسره زمادرب وعده ده چه زمادامت نه به اویازره کسان جنت ته ځی اوهرزرکسانوسره به اویازره کسان نور وی نه به دهغوی سره حساب کیږی اونه به عذاب وی.دهغوی نه علاوه به نورې درې لپې الله ﷻ پخپل لاس باندې ډکې کړی اوجنت ته به ئې اورسوی،هلته به دهغوی عزت اوتعظیم وی.دهغه خانې محافظې فرښتې به هغوی ته زیری کوی اودهغوی تعریفونه به کوی هغوی ته به سلام کوی.ددې نه پس حصه په قران کښی پټه ساتلې شوې ده چه عمومیت باقی پاتې شی،مطلب داچه هغه وخت به دوی پوره خوشحاله شی،بې اندازې به سروراوسکون اوارام ورته حاصل شی هرقسمه طمع به دهغوی پوره شی.

فتحت کښې واؤ کوم یو واؤ دی؟-اودابیانول ضروری دی چه څه خلقوونیلی دی چه وفتحت کښی واؤاتم دې اوددې نه څه مطلب دې چه دجنت اته دروازې دی هغوی ډیرتکلف کړې دې اوبې ضرورته مشقت ئې کړې دی،دجنت داته دروازوثبوت خوپه صحیح حدیثونوکښی موجوددې.مسنداحمدکښی دی چه کوم کس پخپل مال کښی دالله ﷻ په لارکښی مختلف قسمونه خرچ کړی هغه به دجنت د ټولو دروازو نه دننه غوښتلې شی.دجنت ډیرې دروازې دی.مونځ کونکې به په باب الصلوة باندې،سخی به په باب الصدقه باندې،مجاهدبه باب جهادباندې،روژه نیونکې به باب الریان باندې جنت ته غوښتلې شی.

Scanned with Ca

دې اوریدلوسره حضرت ابوبکرصدیقﷺ تپوس اوکړوچه یارسول الله!اګرچه ددې څه ضرورت نشته چه هریوې دروازې نه دې اوغوښتلې شی چه په کومه دروازه ورشی مطلب جنت ته تلل دی،خوداسې هم څوک شته چه به په ټولودروازوباندې غوښتلې شی.حضورﷺ اوفرمائیل چه او،اوزماامیددې چه ته به هم په هغوی کښی ئې.داحدیث په بخاری اومسلم وغیره کښی هم دې.دبخاری اومسلم یوبل حدیث کښی دی چه په تاسوکښی څوک پوره اوښه طریقې سره اودس اوکړی بیاأشهدان لااله الاالله وان محمدعبده ورسوله اووائی دهغه دپاره دجنت اته واړه دروازې کهلاؤشی چه په کومې غواړی لاړدې شی.اوپه حدیث کښی دی چه دجنت چابی لااله‌الاالله ده.

دجنت د دروازو او د جنت د وسعت بیان:- الله ﷻ دې مونږته هم نصیب کړی.دشفاعت په مطول حدیث کښی دی.چه بیابه الله ﷻ اوفرمائی ای محمدﷺ په خپل امت کښی دې په کومویاندې چه حساب نشته هغوی دجنت بنی طرف ته دروازې باندې جنت ته بوځه خوپه نورودروازوباندې هم دوی دنوروسره شریك دی.هم په هغه مې دې قسم وی دچاپه قبضه کښی دمحمدﷺ ساه ده چه دجنت دورشل دومره کهلاؤده څومره فاصله چه په مکه اوهجرکښی ده یائې اوفرمائیل په هجراومکه کښی ده.یوروایت کښی دی مکه اوبصری کښی ده.(بخاری ومسلم)عتبه بن غزوانﷺ په خپله خطبه کښی اوفرمائیل چه مونږته داذکرشوې دې چه دجنت ددروازوکهلاؤوالې څلویښت کاله دمزل هومره دې.یوه داسې ورځ به هم راځی چه جنت ته دزیاتوخلقوته تلوپه وجه باندې داکهلاؤدروازې به هم ډکې شی.(مسلم) مسند کښی دی رسول اللهﷺ فرمائی دجنت دورشل باندې څلویښت کاله مزل دې.دوی چه به کله جنت ته اورسی نو فرښتې به هغوی ته سلام کوی اومبارکی به ورکوی چه ستاسوعملونه،خبرې ستاسو کوششونه او ستاسوبدله هر یو څیز د خوشحالې اوخانسته والی دې.څنګه چه حضورﷺ دیوې غزوې په وخت کښی فرمائیلی وو،لاړشئ اوازاوکړئ چه جنت ته به صرف مسلمانان خلق ځی،یائې فرمائیلی ووچه صرف مومن خلق.فرښتې به هغوی ته وائی چه تاسوبه اوس ددې ځائې نه څوک نه اوباسی بلکه تاسوبه دلته همیشه دپاره ئې.خپل داحالت لیدلوسره به هغوی خوشحاله شی اودالله ﷻ شکربه اداکوی،اووائی به الحمدلله مونږسره چه کومه وعده الله ﷻ دخپل رسولانوپه خولوباندې کړې وه هغه ئې پوره کړه.هم دغه دعادهغوی په دنیاکښی هم وه.﴿رَبَّنَاوَاٰتِنَامَاوَعَدْتَّنَاعَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَايَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ﴾یعنی انې الله ﷻ مونږته هغه راکړه دکومې وعده چه تامونږسره دخپلورسولانوپه خولوباندې کړې ده اومونږ دقیامت په ورځ باندې رسوامه کړې،اوستاذات وعده خلافی نه کوی.اوپه ایت کښی دی چه دغه وخت به جنتیان داهم وائی چه دالله ﷻ شکردې چه هغه مونږته هدایت اوکړوکه هغه مونږته هدایت نه وې کړې نومونږهدایت نه شومومندلې.یقینادالله ﷻ رسولانومونږته حق راوړې وو.هغوی به داهم وائی چه ټول تعریفونه دالله دپاره دی.چه هغه زمونږنه غم لرې کړو.اوزمونږرب بخونکې اوقدرکولووالادې.چه هغه په خپل فضل اوکرم سره مونږته داپاك ځائې نصیب کړوچه دلته مونږته نه څه تکلیف شته اونه څه درداوغم.دلته دادی چه دوی به وائی هغه مونږدجنت دزمکې مالکان جوړکړو.څنګه چه فرمان دې ﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ﴾مونږپه زبورکښی دذکرنه پس لیکلی ووچه دزمکې وارثان به زمانیك خلق وی.هم دغه شان به نن جنتیان وائی چه پدې جنت کښی مونږکوم ځانې کورجوړوځوك مونږته څه نشی وئیلې دا زمونږدعملونوبهترین بدله ده.

جنتیانوباندې دانعامونوباران دمعراج واقعه کښی په صحیح مسلم اوبخاری کښی دی چه دجنت کورونه دلوء لوء دی اودهغې خاوره دخالص مشك ده.ابن صائدنه چه کله حضورﷺ دجنت دخاورې تپوس اوکړونوهغه اووئیل چه سپینه میده لکه خالص مشك.حضورﷺ اوفرمائیل دې رښتیاوائی.(مسلم)

Scanned with Ca

هم په مسلم کښې روایت کښې دی چه ابن صائد دحضورﷺ نه تپوس کړې وو.ابن ابی حاتم کښې د حضرت علیؓ قول روایت شوې دې چه دجنت دروازوته رسیدوسره به دوی یوه ونه اوګوری چه دهغې دجړونه دوه نهرونه وتلی دی په یوکښې به دوی غسل اوکړی چه دهغې سره به دوی دومره پاك شی چه ددوی مخ بدن به اوپرقیږی.دهغوی ویخته به ګمنزشوې اوتیل به په اولږی اوبیابه چرته د ګمنزولو ضرورت ورته نه وی.اودهغې نه به دبونی ټول څیزونه ختم شی.دجنت فرښتې به هغوی ته سلام کوی او مبارکی به ورکوی اوجنت ته تلوسره به هغوی ته وانی چه هریوکس ته به دهغه غلمان راځی اوپه خوشحالئ سره به په دوی باندې قربانیږی اووائی به تاسوخوشحاله شئ الله ﷻ تاسودپاره بې شماره نعمتونه پیداکړی دی.په هغوی کښې به څه په منډومنډولاړشی اوکومې حورې چه دهغوی دپاره په جنت کښې مخصوص شوی دی هغوی به وانی چه مبارك شئ فلانکې راغې.نوم اوریدوسره به په خوشحالې باندې تپوس کوی چه تاپخپله لیدلې دې؟هغوی به وانی اومونږپخپلوسترګو لیدلې دې. دوی به دخوشحالې نه په دروازه کښې اودریږی.جنتې چه به کله محل ته راشی نواوبه اوګوری چه ځائې په ځائې ګدیانې یعنی بالښتونه لږیدلې دی اوآبخورې (کوزې) ایخودلې شوې دی اوقالینونه خواره شوی دی. دغه فرشونوته کتلونه پس به بیادیوالونه ته اوګوری نوسرو اوشنو اوزیړو سپینو او د مختلف قسمه ملغلرونه به جوړشوی وی.بیابه دچهت طرف ته اوګوری نوهغه به دومره صفاوی چه د نورپه شان به پرقیږی. دهغې رنړا به دسترګورنړا ختمه کړی که الله ﷻ هغه اونه ساتی.بیابه خپلوبنځو باندې یعنی دجنت باندې دمینې نظراوکړی اوبیابه پخپل تختونوکښې په کوم چه دهغه خوښه وی کینی.اووائی به دالله ﷻ شکردې چه هغه مونږته هدایت راکړو.

که الله ﷻ مونږته دالارنه وه خودلې نومونږدانه شوه موندلې.اوحدیث کښې دی چه حضورﷺ فرمائیلی دی چه په هغې مې دې قسم وی دچاپه قبضه کښې چه زماساه ده کله چه به دوی دقبرونونه راوځی ، هغوی ته به هرکلې وئیلې شی.هغوی دپاره به دوزروالااوښانې راوستلې شی چه په هغې باندې به د سروکیجاوې وی.دهغوی دبوټانوتسمې به هم په نوربانديې پرقیږی دااوښانې یوقدم دومره لرې ایږدی چه کوم ځائې پورې دانسان نظر رسی.دوی به دیوونې خواه ته اورسی،چه دهغې لاندې به دوه نهرونه روان وی.دیوې اوبه به دوی اوڅکی ددهغې په وجه به ددوی دخیټې نه ټول فضول څیزونه اوګندباهرته وځی. په دویم نهرکښې به دوی غسل اوکړی بیابه دهمیشه دپاره ددوی په بدن باندې ګندنه وی ددوی ویخته به نه خرابیږی اوددوی دبدن اومخ خانست به همیشه وی.اوس به دوی دجنت دروازوته را اورسی اوبه وینی چه دسرویاقوتویوه کنډه یعنی زنځیر ده چه هغه دسروزروتختې ته اویزان ده دوی به هغه اوخوزی نویوډیرخانسته اودسازاوازبه تري پیداشی دهغې اوریدلوسره به دهرې یوې حورې ته پته اولږی چه دهغوی خاوندان راغلل دوی به داروغه ته حکم اوکړی چه لاړشه اودروازه کولاوکړه هغه به دروازه کهلاوکړی.دې به دننه ننوتلوسره دداروغه نورانی مخ لیدلوسره په سجده کښې پریوځی خوهغه به ئې منع کړی اوابه وائی چه تاسوخپل سراوچت کړئ زه خوستاسوماتحت یم.اودخپل ځان سره به ئې بوځی چه کله هغه به دیاقوتوخیمې دروازې ته اورسی نوهلته به دهغه حورې دخیمې نه بهرته راشی اوورغاړه به وځی اوورته به وائی چه ته زمامحبوب ئې اوته زماخوښ ئې زه به همیشه دلته اوسم زه به نه مرم زه دنعمتونووالایم اوغرییئ اومحتاجې نه زه لرې یم.زه به همیشه دستانه راضی اوخوشحاله یم کله به هم نه خفه کیږم.زه به همیشه دستاپه خدمت کښې حاضره یم اواخوا دیخوا به نه خم.دوی به بیا ګورته څې چه دهغې چت به دفرش نه یولاکھ لاسه اوچت وی.دهغې ټول دیوالونه به دقسماقسم اورنګا رنګ ملغلرووی،دهغه په کورکښې به اویاتختونه وی اوپه هرتخت باندې اویا کټونه اوپه هغې کښې به په هریوه بستره کښې اویاحورې وی اوپه هرې یوې حورې باندې به اویاجوړې وی اوددې ټولوپردونه

به لاندې دهغې په پنډوکښې مازغه ښکاری.دهغوی دجماع یواندازبه یوه ټوله شپه وی.دهغوی د باغونواوکورونونه لاندې به نهرونه بهیږی چه دهغې اوبه به کله هم خراب بوئی نه کوی دموتیانوپه شان به صفاوی.اودپیونهرونه به وی چه دهغې خوندبه کله هم نه خرابیږی.هغه پئ به دځناوردبدن نه وی حاصل شوې.دمختلف قسمه میوونه دکې ونې به ځلوروطرفوته وی چه دهغې میوې به ددوی طرف ته راښکته شوې وی.که په ولاړه تړې میوې شکول غواړی خوصحیح ده اوکه په ناسته تړې شکول غواړی نوداخابنونه به دومره ښکته شی چه دوی به تړې اوشکوی.که دوی په ملاسته باندې تړې میوې غواړی نوخابنونه به ورته نورهم ښکته شی.بیاحضورﷺ ددې ایت تلاوت اوفرمائیلو﴿ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا﴾ یعنی دهغه جنتی ونوسوری به په هغوی باندې پراته وی اودهغې میوې به دوی ته نزدې کړې شی.چه دوی کله دخوراك خواهش اوکړی نودشین یاسپین رنګ مرغې به ددوی خواه ته راشی اوخپلې وزرې اوچتې کړی چه دوی دکوم خائې نه دهغې غوښه خوړل غواړی اوبه خوری بیا به هغه مرغې چه څنګه ژوندې وه هم هغه شان به شی اووابه لوځی.فرښتې به هغوی ته راځی او سلام به کوی اووائی به چه دا جنتونه دی اوتاسوددې دخپل عملونوپه وجه باندې ددې وارثان جوړ شوې یئ.که دیوې حورې ویخته په زمکه پریوتل نوهغه به دخپل چمك اوخپل توروالی په وجه نور روښانه کړی اوتوروالې به زیات شی. دا حدیث مرسل دې خوغریب دې.والله اعلم.

وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ
اواوبه وینې تۀ فرښتې | حلقه جوړونکې | چاپیره دعرش نه | او تسبیح به وائی|سره دثنا درب خپل
اوته به فرښتې اووینې چې دعرش نه ګیر چاپیره به ئې حلقه جوړه کړې وی |دخپل رب تسبیح اوحمد بۀ وائی
وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ
او فیصله به اوکړې شی | په منځ دهغوئ کښې | په حقه سره | او اوبه وئیلې شی | چې ثنا |
او (په دغه ورځ) به دخلقو په مینځ کښې په انصاف سره فیصله اوکړې شی | او اوبه وئیلې شی
رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝
الله لره ده | چې پالونکې دمخلوقاتو دې |
چې ټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی | چې دټول مخلوق رب دې

قوله تعالی:: وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ

د الله ﷻ د عظمت او لویئ بیان:: چه الله ﷻ دجنتیانواودوزخیانوفیصله اوکړه،اوهغوی خپل ځایونوته د رسولو بیان هم اوشواوپه هغې کښې دخپل انصاف ثبوت هم ورکړونوپه دې ایت کښې فرمائیلی دی چه دقیامت په ورځ به تاسووینئ چه فرښتې به دالله ﷻ دعرش نه ځلوروطرفوته ولاړې وی اودالله ﷻ حمد اوثناء اوبزرګی به بیانوی،په ټول مخلوق کښې به دعدل اوحق فیصلې شوې وی ددې انصاف اورحم والا فیصلوباندې به دکائنات یوه یوه زره دالله ﷻ تعریف کوی اوژوندی اومړه ځیزونه به اوازکوی.چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ چه هغه وخت به هریومړاوژوندې ځیزبه دالله ﷻ صفت بیانوی په دې وجه باندې دلته دمجهول صیغه استعمالولوپه وجه باندې فاعل عام کړې دې.قتاده رحمه الله فرمائی چه د مخلوق د پیدائش شروع هم دحمدسره کوی.فرمائی ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ﴾ اودمخلوق ختمیدل هم د حمد سره کوی.فرمائی.﴿ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾

الحمد لله دسورة زمرتفسیرختم شو.

Scanned with Ca

ایاتونه		سورة المومن مكية وهي خمس وثمانون اية وسبع ركوعات		ركوع ګاني
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
⑦		شروع کوم په نوم د الله چه ډير مهربان زيات رحم کونکي دي		⑨

حٰمٓ ① تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ②

ح . م | نازليدل | ددي کتاب | دطرفه دالله نه دی | چې غالب دي | په هر څه پوهه دي |

حم داکتاب (يعنی قران پاک) دالله دطرفنه نازل شوي دي | هغه الله چې زبردست په هرڅيز پوهه دي

غَافِرِ الذَّنْۢبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ۙ ذِي الطَّوْلِ ؕ

بښونکي دګناه دي | او قبلونکي دتوبې دي | سخت عذاب ورکونکي دي | خاوند دفضل دي |

ګناه بښونکي اوتوبه قبلونکي دي | په سزا کښې سخت اود ډير لوئي فضل خاوند دي

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ③

نشته لائق دعبادت | مګر هغه دي | خاص هم هغه ته | واپس ورتلل دی |

د هغه نه سوا بل معبود نشته | هم هغه ته (دټولو) واپس کيدل دی |

دالم او حم والا سورتونه او د سلفو اقوال:: دبعضې مشرانوقول دي چه کوم سورتونه دحم نه شروع شوی دی هغې ته حوامیم وئيل مکروه دی.**ال حم** وئيل پکاردی.حضرت محمدبن سيرين رحمه الله هم داسې وائي. حضرت عبدالله بن مسعود فرمائی **حم** دقران ديباچه ده.حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه د هر يو څيز دروازه وی اودقران کريم دروازه حم ده يائي اوفرمائيل حوامیم ده.حضرت مسعربن کدام رحمه الله فرمائی دې سورتونوته عرائس وئيلې شی.عروس ناوې ته وائی حضرت عبدالله رضي الله عنه فرمائی چه دقران مثال دهغه کس په شان دي چه هغه دخپل کوروالودپاره دڅه ښه منزل په تلاش کښې وتلې وی اويوداسې ځائي چه هلته تازه باران شوې وی دي لږشان مخکښې تلې وی اواوګوری چه شنه چمنونه دی.دې لمده زمکه ليدلوباندې مخکښې نه حيران ووخودهغه حيرانتيانوره هم زياته شوه.هغه ته اووئيلی شوچه مخکښې مثال خودقران کريم دعظمت مثال دي.اوددي باغيچومثال داسې دي لکه چه قران کښې دحم والا سورتونه(بغوی).ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه دهرڅيزڅه دروازه وی اودقران دروازه هم داحم والا سورتونوته دی.ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه زه کله تلاوت کوم اودحم والاسورتوته اورسم نوماته داسې ښکاری لکه چه زه دشنوباغونو سيل کوم.يوکس ابودرداء رضي الله عنه په جمات جوړولوباندې اوليدو.اوتپوس يې ترې اوکړو چه داڅه دی.ورته ئې اوفرمائيل چه دازه دحم والاسورتونودپاره جوړوم.ممکن ده چه داهغه جمات وی کوم چه ددمشق په قلعه کښې دننه دي دابودرداء نوم سره منسوب دي اوداهم کيدیشی چه دهغې حفاظت دابودرداء دنيك نيتې اوپه څه وجه چه داجمات جوړشوې وو.دهغې دبرکت په وجه وی.په دې کلام کښې ددشمنانوباندې دفتح اوکامیابې دليل هم دي.ځنګه چه حضور ﷺ په څه جهادونوکښې خپل لښکرته فرمائيلی وو که تاسودشپې يوناساپه حمله اوکړئ نوستاسوپيژند ګلوپه خاص لفظونوکښې حم لاينصرون سره ده.په يوروايت کښې تنصرون دی.مستدبزارکښې دی چه چادايت الکرسی اوسوره المؤمن رومبې حصه اووئيله هغه به دټولې ورځ دګناهونونه محفوظ وی.داحديث په ترمذی کښې هم دي او د دې په يوروايت کونکی باندې څه جرح ده.

Scanned with Ca

قوله تعالى:: غَافِرِ الذَّنْبِ

دعذاب اوثواب مالک الله ﷻ دي:-دسورتونوپه شروع کښې چه دحم په شان حرفونه راځي دهغې پوره تفصيل مونږدسوره بقره دتفسيرپه شروع کښې کړي دي اودهغې دواپس بيانولوڅه ضرورت نشته. بعضې وائي چه حم دالله ﷻ يونوم دي اوددي په ثبوت کښې هغوی داشعرپيش کوی.

بذكرني حم والرمح شاجر فهلا تلاحم قبل التقدم

يعنی داماته حم يادوی چه کله نيزه تياره وی بيادهغې نه مخکښې هغه حم ولې اونه وئيلو . د ابوداؤد اوترمذی په حديث کښې دی که په تاسوباندې دشپې حمله اوشی نوحملاينصرون وائی د دې صحيح سند دې.ابوعبيده وائی زماداخوښه ده چه داحديث داسې بيان شی چه حضور ﷺ فرمائيلی دی.چه تاسو اووايی حملاينصرون يعنی دنون نه بغير.يعنی دهغوی په نږدباندې لاينصرو،،دحم اجزاء دی يعنی چه کله به تاسوداوايی نوتاسويه مغلوب کيږې نه نوقول صرف حم پاتې شوداکتاب يعنی قران مجيدالله ﷻ د طرف نه نازل شوې دي چه هغه دعزت اوعلم والادې چه دهغه شان دهرقسمه بې ادبې نه پاک دي اوچه د هغه نه يوه ذره هم پټه نه ده که هغه په څومره پردوکښې ولې نه وی.هغه ګناهونه بخلووالادې اوچه څوک دهغه طرف ته ښکته کيږی دهغه طرف ته متوجه کيدووالادې.اوڅوک چه دهغه نه بې پروائی کوی اودهغه مخکښې سرکشی اوکبرکوی اودنياخوښه کړی اوداخرت نه مخ واړوی الله ﷻ دهغه فرمانبرداری پرې دی اوهغه ته سخت عذاب اوسختې سزاګانې ورکولووالادې.څنګه چه فرمان دې ﴿نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ﴾ يعنی زمابنديان خبرکړه چه زه بخښلووالااورحم کولووالا اومهربان يم اوزماعذاب دردناک دي.نورهم داسې ايتونه په قران کريم کښې ډيرزيات دی چه په هغې کښې درحم اوکرم سره د عذاب اوسزابيان هم شته چه بنده دويرې اوامېدپه حالت کښې وی. هغه دلوې شان والاغنی دي اودډير ښه والی والادډيراحسانونواوزيات نعمتونواورحمتونووالادي.په بنديانوباندې د هغه نعمتونه او رحمتونه دومره دی چه هغه شمارلې هم نه شی چه له دهغې شکر اداکړی.بلکه حقيقت دادي چه د يو نعمت هم شکرپوره نشی اداکولې.دهغه په شان څوک نشته اودهغه يوصفت هم په چاکښې نشته دهغه نه علاوه څوک دعبادت لائق نشته اونه دهغه نه علاوه څوک د پرورش والا شته. دهغه طرف ته به ټول خی.هغه وخت به هغه هرعمل کونکی ته دهغه دعمل مطابق بدله ورکوی.اوډير زر به دحساب نه فارغ شی.دامير المومنين حضرت عمربن خطاب نه يوکس ديوې مسئلې تپوس اوکړو چه ماڅوک قتل کړو نوزماتوبه قبليدې شی.هغوی ورته دايت دشروع دوه ايتونه تلاوت اوفرمائيل اواوئې فرمائيل چه نا اميده کيږه مه اونيک عمل کوه.(ابن ابی حاتم)

حضرت عمر ﷺ ته به يوشامی کله کله راتلواوهغه لږدغه شان سړې وو.يوخل هغه دډيروخت دپاره رانه غې نوحضرت عمر ﷺ دخلقونه دهغه تپوس اوکړونوهغوی ورته اووئيل چه زيات شراب نې څکل شروع کړی دی. حضرت عمر ﷺ خپل کاتب رااغوښتو.اوورته نې اووئيل ليکه داخط دي دعمربن خطاب د طرف نه فلان بن فلان ته.دسلام نه پس عرض دادې چه تاته دهغه الله تعريف کوم چه دهغه نه علاوه څوک دعبادت لائق نشته چه هغه ګناهونه بخلووالاسخت عذاب والااولوې احسان والادې اوچه ټول خلق به د هغه طرف ته خی.داخط هغه ته ليږلوسره حضرت عمر ﷺ خپل ملګروته اووئيل دخپل رور دپاره دعاکوئ چه الله ﷻ دهغه زړه متوجه کړی اودهغه توبه قبول کړی.کله چه هغه کس ته دحضرت عمر ﷺ خط اورسيدونوهغه دغه خط باربارااولوستلواودانې ونيل شروع کړل چه زه الله ﷻ دخپل عذاب نه ويرولې يم اودخپل رحمت اميدسره نې دګناهونودمعاف کولووعده هم کړې ده.څوخله نې هغه اووئيلو او په ژړاشواوبيانې ربښتونې توبه اوکړه.کله چه فاروق اعظم ﷺ ته داپته اولږيده نوډيرزيات خوشحاله شواواوئې فرمائيل هم داسې کوئ چه کله تاسويومسلمان رورپه ګناه کښې اووينې نوهغه

Scanned with Ca

نیغ اومضبوط کړي اوددي سره دالله ﷻ نه دعاکوئ،دشیطان مددګارمه جوړیږئ.حضرت ثابت بنانی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه حضرت مصعب بن زبیر رضی اللہ عنہ سره کوفه ته نزدي ووم چه ماپه یوباغ کښی دوه رکعت مونځ شروع کړواوپه هغي کښی مي دسورت مومن تلاوت شروع کړو زه لاد ﴿إِلَيْهِ الْمَصِيرُ﴾ ته رسیدلي ووم چه یوکس چه هغه زماشاته په یوسپین خچرباندي سوروواوپه هغي باندي دیمن څادرونه وو.ماته نې اووئیل چه کله ﴿غَافِرِ الذَّنْبِ﴾ اووائي نو "یاغافرالذنب اغفرلی ذنبی"،وایه اوچه کله ﴿وَقَابِلِ التَّوْبِ﴾ اووائي او اوایه قابل التواب اقبل توبتی اوچه کله ﴿شَدِيدِ الْعِقَابِ﴾ اووائي نووایه یاشدیدالعقاب لاتعاقبنی.حضرت مصعب رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه ماورته کورنظراوکتل نوخوک نه وو،چه کله فارغ شوم نودروازي ته لاړم چه کوم کسان ناست ووډهغوی نه مي تپوس اوکړوچه تاسوسره څوک کس تیرشوي دي چه په هغه باندي دیمن څادرونه وو.هغوی اووئیل نه مونږخوخوک په راتلوباندي اوتلوباندي نه دي لیدلي.بس خلقوداخیال کولو چه داحضرت الیاس علیہ السلام وو.داروایت په بل سندسره هم روایت شوي دي.اویه هغي کښی دحضرت الیاس علیہ السلام ذکرنشته.والله سبحانه ﷻ اعلم.

مَا يُجَادِلُ			
نه کوی جګړه			
دالله ﷻ دآیتونو په باره کښي			
فِيٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ	اِلَّا الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فَلَا يَغْرُرْكَ
په ایتونو دالله کښی	مګر هغه کسان	چې کفر ئې کړي دي	پس په دوکه کښی وانچوی تالره
هغه خلق جګړي کوی	چې کفرئې اختیار کړي دی	نو ته په دې غلط مه شې	
تَقَلُّبُهُمْ	فِي الْبِلَادِ ۝	كَذَّبَتْ	قَبْلَهُمْ	قَوْمُ نُوْحٍ
ګرځیدل دهغوئ	په ملکونو کښی	دروغ ګنړلي دي (رسول خپل)	مخکښی ددوئ نه	قوم دنوح
چې دوئ په ښارونو کښي (خوشحاله) اوړی راوړی	ددوئ نه مخکښي دنوح قوم اود هغوئ نه پس نورو			
وَالْاَحْزَابُ	مِنْ بَعْدِهِمْ ۖ	وَهَمَّتْ	كُلُّ اُمَّةٍ	بِرَسُوْلِهِمْ
او نورو ډیرو ډلو هم	روستو دهغوئ نه	او قصد اوکړو	هر اهت (قوم)	په رسول خپل
ډلو (پیغمبران) دروغ اوګنړل	اوهري یوې ډلې دخپل پیغمبر دبندی کولو اراده اوکړه			
لِيَاْخُذُوْهُ	وَجٰدَلُوْا	بِالْبَاطِلِ	لِيُدْحِضُوْا	بِهِ
چې اونیسی هغه	او کوشش اوکړو هغوئ	په باطل سره چې ختم کړیی،ښکته کړی	په هغې سره	
او په ناحقه جګړې یئ ورسره شروع کړې	چې پدې سره حق دین ناکامه کړی			
الْحَقَّ	فَاَخَذْتُهُمْ ۫	فَكَيْفَ كَانَ	عِقَابِ ۝	وَكَذٰلِكَ	حَقَّتْ
حق	پس اونیول ماهغوئ	پس څرنګې	ووه	عذاب زما	او همدارنګې	حقه (ثابته) ده
نو ما هغوئ (په عذاب سره) راونیول	نو اوګوره زما سزا څنګه وه			اودغه شان ستا	
كَلِمَةُ رَبِّكَ	عَلَى الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اَنَّهُمْ	اَصْحٰبُ
خبره درب ستا	په هغه کسانو باندي	چې کفر نې کړي دي	چې بیشکه هغوئ	خاوندان
درب فیصله په کافرانو باندي ثابته شوې ده	چې هغوئ دوزخیان دی			

Scanned with Ca

النَّارِ ۝
دوور دی ۔
او هغه فرښتې چې عرش ئې اوچت کړې دي ۔

قوله تعالی:: مَا يُجَادِلُ فِيْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

پرحق خبره کښې شکونه پیداکول دکافرانوکاردي: ۔الله ﷻ فرمائی چه دحق دښکاره کیدونه پس دانه منل اوپه دې کښې دنقصان پیداکولو کوشش دکافرانوکار دي.که داخلق مالداراوعزت والاوی نوپه دې باندې تاسومه دهوکه کیږئ که دوی دالله ﷻ خوښ نه وونودوی ته به ئې خپل نعمتونه نه ورکول؟څنګه چه به بل ځائې کښې فرمائیلی دی،چه دکافرانوپه ښارونوکښې تګ راتګ دې تاسوته دهوکه درنه کړی،داخوهسې دلږه شان فائده ده اخری انجام خوددوی دوزخ دې چه هغه بدځائې دي.اوپه ایت کښې ارشاددې چه مونږهغوی ته ډیره لږه فائده ورکوواوپه اخرکښې به هغوی ته سخت عذاب ورکولې شی. بیاالله ﷻ خپل نبی ﷺ ته تسلی ورکوی چه دخلقوددروغژن وئیلوباندې خفه کیږه مه دځان نه دمخکښې نبیانوحالت اوګوره چه هغوی ته هم دروغژن وئیلی شوی دی اوپه هغوی باندې دایمان راوړلو والا تعدادډیرکم وو.حضرت نوح علیه السلام چه هغه دادم په اولادکښې دټولونه ړومبې رسول دې چه کله په خلقو کښې په اول خل بت پرستی شروع شوې وه نوهغه خلقودهغه هم اونه منل اودهغه نه پس چه څومره نبیان راغلل دهغوی امت دهغوی اونه منل بلکه په هرزمانه کښې دهغوی امت هغوی قیدکول اووهل غوښتل.اوپه بعضوکښې هغوی کامیاب هم شول.اوپه خپل شکونوباندې اوپه باطل باندې حق کم هم اوګنړلو.

قوله تعالی:: لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ فَاَخَذْتُهُمْ

طبرانی کښې درسول الله ﷺ فرمان دي چه چادباطل مدداوکړوچه حق کمزورې کړی ددې نه الله ﷻ او د هغه رسول بری دي.الله ﷻ فرمائی چه مادغه باطل خلق اونیول اوهغوی مې دهغوی دګناهونو او د هغوی دسرکشې په وجه باندې هلاک کړل.اوس تاسواووائې چه زماعذاب په هغوی باندې څنګه شو؟ یعنی ډیرسخت تکلیف اودردناک.څنګه په هغوی باندې دهغوی دناپاک کارونوپه وجه باندې عذابونه نازل شول اګرکه دوی نورنبیان رښتونې اوګنړی خوچه ترڅودستادنبوت قائل نه وی دهغوی رښتیاوالې مردوددي.والله اعلم.

اَلَّذِيْنَ	يَحْمِلُوْنَ	الْعَرْشَ	وَمَنْ	حَوْلَهٗ
۔ هغه فرښتې ۔ چې اوچتوی ۔ عرش ۔ او هغه فرښتې ۔ چې چاپیره دی دعرش نه ۔				
او هغه فرښتې چې عرش ئې اوچت کړې دي ۔ اوکومې چې ترې نه ګیر چاپیره دی				
يُسَبِّحُوْنَ	بِحَمْدِ رَبِّهِمْ	وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ		وَيَسْتَغْفِرُوْنَ
هغوئ تسبیح وائی ۔ دثنا درب خپل سره ۔ او ایمان راوړی په هغه باندې ۔ او دښبنائې دعا غواړی ۔				
هغوئ ټولې دخپل رب تسبیح اوتعریف بیانوی ۔ اوپه هغه ایمان راوړی ۔ اودمومنانو				
لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا ۚ	رَبَّنَا	وَسِعْتَ	كُلَّ شَيْءٍ
دپاره دهغه کسانو ۔ چې ایمان ئې راوړې دي ۔ اے ربه زمونږه ۔ رسیدلې ئې ته ۔ هر څیز ته				
دپاره داسې ښښنه غواړی ۔ چې ائې زمونږ ربه ۔ ستا رحمت او ستا علم په				

Scanned with Ca

رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا
په لحاظ درحمت سره	او دعلم سره	پس اوبښه	هغه کسانو لره	چې توبه ئې ایستلی ده	
هر څه باندې راخور شوې دې	نو هغه کسان اوبښه چا چې توبه اوویستله
وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝ رَبَّنَا
او پیروی ئې کړې ده	دلارې ستا	او بچ کړې هغوئ	دعذاب	ددوزخ نه	اے ربه زمونږه
اوستاپه لار روان دی	اوددوزخ دعذاب نه ئې بچ کړه	..... اې زمونږ ربه!
وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ
او داخل کړې دوئ	جنتونو	دهمیشه اوسیدو ته	هغه	چې وعده کړې ده تا ددوئ سره
ته هغوئ دهمیشه اوسیدلو باغونو کښې داخل کړه	دکومو چې ورسره تا وعده کړې وه
وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ ط
او هغه څوک	چې نیکان دی	دپلارانو ددوئ نه	او دښځو ددوئ نه	او داولاد ددوئ نه
او هغوی هم داخل کړه کوم چې د هغوئ پلارانو ، بیبیانو او اولاد کښې نیکان دی
اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ ط وَمَنْ
بیشکه ته	هم ته	غالب ئې دحکمت خاوند ئې	او اوساته هغوئ	دبدونه	او هغه څوک
بیشکه چې ته زبردست دحکمت خاوند یې	اوهغوئ دهرقسم تکلیفونو نه محفوظ اوساته
تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ط وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ
چې تا اوساتو دبدونه	په دغه ورځ	نو بیشکه رحم اوکړو تاپه هغه	او دا	هغه کامیابی ده
اوتا چې په دغه ورځ څوک دتکلیف نه محفوظ کړو	نوهغه سره دې لویه مهربانی اوکړه
الْعَظِيْمُ ۝ ع
لویه
اوداډیره لویه کامیابی ده

قوله تعالیٰ:: اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ

د عرش اوچتونکی فرشتې دمومنانودپاره دعاکوی:-عرش نیولووالاځلورفرښتې دهغوی سره خواه کښې ټولې بزرګې فرښتې یوطرف ته دالله ﷻ بزرګی بیانوی اوټولوعیبونواوکمو نه هغه پاکی بیانوی،دویم طرف ته هغه د ټولوتعریفوتو قابل ګڼړی اودهغه حمداوثناء بیانوی.یعنی چه څه په الله کښې نشته د هغې انکارکوی اوکوم صفتونه چه په هغه کښې زی هغه ثابتوی اوپه هغې باندې ایمان اویقین لری. د هغه نه عاجزی کوی اوټول ایماندارسړی،او ښځو دپاره استغفارکوی.دزمکې والوپه الله ﷻ باندې بې لیدلو ایمان دې په دې وجه باندې الله ﷻ خپل مقرب فرښتې دهغوی دګناهونودمعافې غوښتلودپاره مقررکړی دی اوچه څوک بې لیدلوهروخت دهغوی دګناهونو معافی غواړی.صحیح مسلم کښې دی چه کله مسلمان دخپل مسلمان رورډپاره دهغه په غیرموجودګئ کښې دعاکوی نوفرښتې دهغه په دعا باندې امین وائی اودهغه دپاره دعاکوی چه الله ﷻ دې تاته هم دغه درکړی چه ته دهغه مسلمان دپاره

Scanned with Ca

دعاکوي. مسند احمد کښی دی چه امیه بن ابی الصلت دځه شعرونورسول الله ﷺ تصدیق کړې دي ځنګه چه داشعر دي.

زحل وثور تحت رجل یمینه والنسر للاخري ولیث مرصد

یعنی دعرش والاځلورفرښتې دی دوه یوطرف ته اودوه بل طرف ته.حضور ﷺ اوفرمائیل ربښتیا دی، بیاهغه اووئیل.

والشمس تطلع کل اخر لیلة حمراء یصبح لونها یتورد

تابی فما تطلع لنا فی رسلها الا معذبة والا تجلد

یعنی نمړیه سورونګ کښی راوځی،هغه به ګلابی شی،په خپل شکل کله هم صفانه ښکاری بلکه تن وی.حضور ﷺ اوفرمائیل ربښتیادی.ددې سند ډیرپوخ دي.اوددې نه صفاظاهرېږی چه هغه وخت دعرش ځلورفرښتې دی،اودقیامت په ورځ به اته فرښتوعرش نیولې وی ځنګه چه په قران مجیدکښی دی. ﴿وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ﴾ اوددې ایت نه مطلب اوددې حدیث په استدلال کښی یوسوال پاتې کیږی چه دابوداوډیه یومشهورحدیث کښی دی چه بطحاکښی رسول الله ﷺ خپلو صحابیانو ﷺ ته یو وریځ اوخودله اوتپوس ئې تري اوکړوچه ددې نوم څه دي؟ هغوی اووئیل سحاب .حضور ﷺ اوفرمائیل دې ته مزن هم وئیلې کیږی.هغوی اوئیل او،اوئې فرمائیل عنان هم؟عرض ئې اوکړواو.تپوس ئې اوکړو تاسوته پته ده په اسمان اوزمکه کښی څومره فاصله ده؟صحابه ﷺ اووئیل نه.اوئې فرمائیل د یو اویا، یا دوه یادرې اویاکاله مزل دي.بیادهغې دپاسه اسمان هم په دومره فاصله باندې دي،هم دغه شان اووم اسمان،په اووم اسمان باندې یوسمندردې چه دهغې ډوب والې هم دغه هومره دې بیاپه هغې باندې اته فرښتې دغریځوچیلوپه شان دی چه دهغوی دځکرنه خپوپورې فاصله هم دغه هومره ده،ددې نه شاته د الله ﷻ عرش دي.چه دهغې اوچت والې هم دغه هومره دي.بیادهغې دپاسه الله ﷻ دي. ترمذی کښی هم داحدیث دی اوامام ترمذی دې ته غریب وائی.ددې نه معلومیږی چه عرش الهی اوس داوخت د اتو فرښتودپاسه دي.شهربن حوشب ﷺ فرمائی چه دعرش نیونکی اته دی.چه په هغې کښی د ځلورو خو دا تسبیح ده.سبحانك اللهم وبحمدك لك الحمد علی حلمك بعد علمك یعنی ائې الله ﷻ دستاپاك ذات دپاره ټول حمد او ثناء دی چه سره دعلمه ته معاف کول کوې.اودنوروځلوروتسبیح داده. سبحانك اللهم وبحمدك لك الحمد علی عفوك بعد قدرتك یعنې ائې الله د قدرت سره چه ته کومه معافی کوې،په هغې باندې مونږدستاپاکی او ستاتعریف بیانوو.په دې وجه دمومنانوپه استغفارکښی هغوی داهم وائی چه ائې الله ستارحمت اوعلم هر یوځیزپه لوې والی کښی اخستلې دي.

دادم داولادپه ټولوګناهونواوخطاګانوباندې ستارحمت دي.دغه شان ستاعلم کښی هغه ټول کارونه او قولونه دی.دهغوی دټولوکارونواوحرکاتونه ته خبرئې.نوته هغه خراب خلق کوم چه توبه اوکړی ستا طرف ته ښکته شی اوګناهونه پریدی اوستاحکمونه اومنی اونیکیانی کوی اوبدیانې پریدی اوهغوی ته ددوزخ دردناك عذاب نه خلاصې ورکړه اوهغوی سره دخپل مورپلاراوښځواوبچوجنت ته بوځې چه د هغوی سترګې یخې وی،اګرکه دهغوی عملونه دومره نه وی خودهغوی درجې اوچتې کړه.ځنګه چه دباری تعالی عزاسمه،فرمان دي. ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ﴾ یعنی کوم خلقوچه ایمان راوړواودهغوی د ایمان اتباع دهغوی اولادهم اوکړه مونږبه هغه اولادهم دهغوی سره ملاؤ کړو او د هغوی څه عمل به نه کموو.په درجوکښی به ټولوته برابری ورکړوچه دواړه طرفوته سترګې یخې وی. اوبیابه دانه کوی چه د اوچتو درجووالابه ښکته کړی بلکه په خپل رحمت اواحسان سره به دښکته درجووالا اوچت کړی. سعیدبن جبیر ﷺ فرمائی مومن به په جنت کښی تپوس کوی چه زماپلارزمارور اوزما اولاد چرته دی؟ جواب به ورته ملاؤشی چه دهغوی نیکیانې دومره نه وې چه هغوی دې درجې ته رارسیدلې وې. دې به

Scanned with Ca

وائی چه ماخودخپل ځان دپاره اودهغوی دپاره داټول عملونه کړی وو.نواللہ ﷻ به هغوی هم ددې درجوته اورسوی.بیاهغه هم ددې ایت تلاوت اوفرمائیلو ﴿رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ﴾ مطرف بن عبداللہ فرمائیلی دی چه ایماندارو خیرخواهی فرښتې هم کوی.بیائې هم داایت تلاوت کړو اود شیطانانو بد خواهی کوی. نو هغه داسې غالب دې چه په هغه بل څوک غالب نشته اوچه هغه څوک منع کولې نشی.ته چه څه غواړې هغه کیږی اوچه څه نه غواړې هغه نه کیږی.ته په خپل اقوالواوکارونو اوشریعت اوتقدیرکښی حکمت والائې.ته هغوی په دنیاکښی دخرابونه اودهغې د نقصان نه په دواړو جهانونوکښی محفوظ اوساته. د قیامت په ورځ به هغه رحمت والاګنړلې شی چه کوم ته دخپلې سزا اوعذاب نه بچ کړې.په حقیقت کښی لویه کامیابی اوپوره مقصداوفتح هم په دې کښی ده.

اِنَّ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	يُنَادَوْنَ	لَمَقْتُ اللّٰهِ
بیشکه هغه کسان	چې کفر ئې کړې دې	آواز به اوشی هغوئ ته	خامخا غصه دالله
ابیشکه کومو خلقو چې کفر کړې دې	هغوئ ته به دا آواز ورکولې شی چې لکه څنګه		
اَكْبَرُ	مِنْ مَّقْتِكُمْ	اَنْفُسَكُمْ	اِذْ تُدْعَوْنَ	اِلَى الْاِيْمَانِ
ډیره زیاته ده	دغصې ستاسو نه	ځانونو خپلو ته	کله چې	به اوبللې شوئ تاسو	ایمان ته
(نن)ستاسو دځان نه نفرت دې	ددې نه زیات نفرت به درنه اللہ ﷻ کولو	چې تاسوبه ایمان ته رابللې شوئ			
فَتَكْفُرُوْنَ ﴿۱۲﴾	قَالُوْا	رَبَّنَآ	اَمَتَّنَا	اثْنَتَيْنِ
نو تاسو به انکار کولو	اوبه وائی هغوئ	اے ربه زمونږه	مړه کړو تا مونږه	دوه ځله
اوتاسو بۀ انکار کولو	.....هغوئ به وائی چې ائې زمونږه ربه ! مونږ دې دوه ځله مړه کړو			
وَاَحْيَيْتَنَا	اثْنَتَيْنِ	فَاعْتَرَفْنَا	بِذُنُوْبِنَا	فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ
او ژوندی کړو تامونږه	دوه ځله	پس اقرارکوؤمونږه	دګناهونوخپلو	نوآیا شته ددې خائې نه وتلو ته
اودوه ځله دې راژوندی کړو	نواوس مونږ دخپلو ګناهونو اقرار اوکړو	نوآیا اوس		
مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۱۳﴾	ذٰلِكُمْ	بِاَنَّهٗٓ	اِذَا دُعِيَ	اللّٰهُ وَحْدَهٗ
څه لار	دا حالت ستاسو	په سبب ددې دې	چې کله به غوښتلې کیدل	خلق	الله ته	یوازې
(ددې عذاب نه دبچ) وتلو څه لار شته ؟	دا ځکه(سزا درکولې شی)	چې که صرف دالله نوم بۀ اخستې شو			
كَفَرْتُمْ ۚ	وَاِنْ يُّشْرَكْ	بِهٖ	تُؤْمِنُوْا ؕ	فَالْحُكْمُ
نوانکار به کوؤ تاسو	اوکه شریك به کړې شوخوك	ادهغه سره	انوتاسوبه منلو	انواوس اختیاریا فیصله
نوتاسو بۀ تړې انکار کولو	اوکه څوک به ورسره شریکولې شو	انوبیا به مومنله	انو اوس داالله فیصله ده	
لِلّٰهِ	الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ﴿۱۲﴾	هُوَ الَّذِيْ	يُرِيْكُمْ	اٰيٰتِهٖ
الله لره ده	چې اوچت دې لوئ دې	هغه هغه ذات دې	چې ښائی تاسو ته	ښکې خپلې
چې ډیر د اوچتې مرتبې خاوند دې	الله هغه ذات دې چې تاسو ته خپلې ښکې ښائی			

Scanned with Ca

وَيُنَزِّلُ	لَكُمْ	مِّنَ السَّمَآءِ	رِزْقًا ؕ	وَمَا يَتَذَكَّرُ	اِلَّا مَنْ
او نازلوی	ستاسو دپاره	داسمان نه	رزق	اونۀ قبلوی نصیحت	مګر هغه څوک
او پورته نه درته روزی رالیږی	او نصیحت خو بس هغه څوک قبلوی چې الله ﷻ ته				
يُّنِيْبُ ۝	فَادْعُوا اللّٰهَ	مُخْلِصِيْنَ	لَهُ	الدِّيْنَ	
چې رجوع کوی الله ته	نو را اوبلئ	الله	حال دا چې خالص کونکی یئ	هغه لره	ددین څخه
رجوع کوی	نوتاسو په خالصه عقیده باندې الله ﷻ نه دعا کوئ	.....		اګر که هغه په	
وَلَوْ كَرِهَ	الْكٰفِرُوْنَ ۝				
اګر که ئۀ خوښوی	کافران				
کافرانو بده لګی					

قوله تعالی:: يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ

دګناه ګارانو دوزخ په خواه کښې خراب حالت: دقیامت په ورځ چه کله به کافران داورد کویانوپه خواه کښې وی اوالله ﷻ عذابونه به په وی اوټول کیدونکی عذابونه به دهغوی مخکښې وی هغه وخت به پخپله دخپل نفس دښمنان شی.اوډیرسخت دښمنان به شی.ځکه چه د خپل خراب عملونوپه وجه باندې هغه دوزخ ته ځی.دغه وخت به فریښتې هغوی ته په اوچت اوازسره وائی چه نن تاسوځومره دخپل ځان نه خفه ئې اوځومره دښمنی چه دستاسونن دخپل ځان سره ده اونن چه ځومره تاسوخپل ځان ملامته کوئ د هغې نه زیات خراب تاسو دالله ﷻ په نزد په دنیا کښې وې چه تاسوته داسلام دایمان دعوت درکړې کیدو اوتاسوهغه نه منلو.

د (اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ) مطلب:: ددې نه پس ایت د ﴿كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ﴾ په شان دې.سدی رحمه الله فرمائی دوی په دنیا کښې مړه کړې شول بیائې په قبرونوکښې ژوندی کړل اودسوال جواب نه پس مړې کړې شول اوبیا د قیامت په ورځ ژوندی کړی شو.ابن زید رحمه الله فرمائی چه دادم علیه السلام دشانه دوعدې په ورځ ژوندی کړې شول بیادمورخیته کښې ورکښې روح واچولې شوبیامړه شول اودقیامت په ورځ به بیاژوندی شی.خو دا دواړه قولونه صحیح نه دی ځکه چه دریم مرګونه اودریم ژوندونه لازم راځی اوپه ایت کښې ددوو مرګونو اودوو ژوندونو ذکر راغلې دې.صحیح قول دابن مسعود رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنه اودهغوی دملګرو دې.(یعنی دموردخیتې نه پیداکیدل یوژوند اودقیامت په ورځ دویم ژوندد دیناد پیدا کیدونه مخکښې رومبې مرګ اوددنیا نه درخصتیدومرګ،دادوه مرګونه اودوه ژوندونه مطلب دی.

قوله تعالی:: فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ۝

دنیاته د راتلوناکامه غوښتنه: مقصد دا دې چه په دغه ورځ به کافران د الله ﷻ نه د قیامت په میدان کښې داطلب اوخواهش کوی اوس مونږ دې دنیاته یوځل بیا اولیګه لکه چه ارشاددې ﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْنَ﴾ (۱)نوته به ګورې چه ګناهګاران خلق به خپل رب ته سرښکته وی اووانی به چه ای الله ﷻ مونږ اولیدل اومونږ واوریدل.اوس ته مونږ بیادنیاته اولیږه نونیکئې به کوو اوایمان به راوړو خود دوی دا تمنا به نه شی قبلولې. بیا چه کله عذاب اوسزا دوزخ او د دې اور اووینی اود دوزخ غاړې له اورسولې شی نوبیابه دغه درخواست کوی اود اول ځل نه به نی زیات په زور سره کوی لکه چه د الله ﷻ ارشاد مبارک دې ﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ

---

(۱) ۳۲/السجدة:۱۲.

Scanned with Ca

رَبَّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾(۱) افسوس چه تالیدل کله چه هغوی د دوزخ خواکې اودرولې شوی وی اووانی چه ارمان مونږ یوخل بیا دنیاته واپس کړې شونود خپل رب خبرې به دروغ نه ګنړو اوایماندار به شو بلکه دهغوی دپاره خوهغه ښکاره کړې شو چه دوې اول پټ کړې شوی وو.اوکه بالفرض دوی واپس هم اوګرځولې شی نودوی به بیا هم هغه کوی د کوم نه چه منع کړې دی. داخودی دروغژن. دې نه پس چه کله هغوی په دوزخ کښې واچولې شی اوعذاب شروع شی هغه وخت به نور هم په زوردار اوکلك انداز اوالفاظوکښې دغه آرزوګانې کوی هلته به په چغوصورو سره وانی ﴿رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ۭ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاۗءَكُمُ النَّذِيْرُ ۭ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ﴾(۲) ای زمونږ پروردګاره مونږ د دې خایٔ نه اوباسه مونږ به نیك عملونه کوو د هغې خلاف به کوو تراوسه پورې چه موکړی دی.جواب به ورکولې شی چه ولې مونږ تاسو ته دومره عمر اومهلت نه وو درکړې که چرې دوی نصیحت حاصلونکی وو نویقین به پرې کولې شوبلکه مونږ خوتاسو له خبردرکونکې هم درلیګلې وو اوس دخپلو کړو مزه واخلئی د ظالمان هیڅ څوك امدادی نشته. وانی به چه ای الله مونږ د دې خایٔ نه اوباسه که مونږ بیاهم هغه شان اوکړه نو مونږ به ظالمان یو. الله ﷻ به فرمائی لرې شئی هم په دې کښې پراته اوسئی ماسره خبرې مه کوئی. په دې آیت کښې دې خلقو د خپل سوال نه وړاندې یوه مقدمه قایمولوسره په سوال کښې یوه مزیداره خبره کړې. ای الله ﷻ مونږ مړه ووتامونږ راژوندی کړوبیادې مړه کړوبیادې راژوندی کړو ته په هرهغه څیز باندې قادرئی کوم چه ته غواړې زمونږ د خپلو ګناهونواقرار دې. یقینا مونږ په خپلوخانونو باندې ظلم اوزیاتې کړې اوس د خلاصی څه صورت جوړکړې یعنی مونږ دنیاته بیا واپس کړه چه یقینا ستا په طاقت کښې دی. مونږ چه هلته لاړشونود خپلو اولنوعملونو خلاف به کوو اوس که دې څل بیا مونږ هم هغه کار اوکړو نو مونږبه ظالمان یو. هغوی ته به جواب ورکولې شی چه اوس بیا دنیاته د تلو هیڅ لار نشته. د دې د پاره که بیا لاړهم شئی نو هم هغه کارونه به کوئی د کوم نه چه منع کولې شئی. تاسو خپل زړونه کاږه کړی دی. تاسو اوس هم حق نه قبلوئی بلکه د دې به خلاف کوئی. ستاسو خوداحال وو چه کله هم د رب واحد ذکر راغلې ستاسو په زړه کښې کفر راغلې دې. او که ده سره څوك شریك کولې شو نوستاسو یقین اوایمان راتلو.ستاسو به بیا هم هغه حالت شی.که دنیا ته بیا لاړئی نو هم دغه به کوئی نوحاکم حقیقی د چا په حکم کښې چه هیڅ ظلم نه وی سراسر عدل اوانصاف وی هغه هم الله ﷻ دې. چاله چه غواړی هدایت ورکړی اوچاله چه غواړی نه ورکوی. په چاباندې چه غواړی رحم اوکړی څوك چه غواړی عذاب ورکړی. د هغه په حکم او انصاف کښې څوك هم د هغه شریك نشته.

قوله تعالیٰ:: هُوَالَّذِيْ يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ

دالله ﷻ د قدرت دلائل: هغه الله ﷻ په خلقو باندې خپل قدرت ښکاره کوی په زمکه اوآسمان کښې د هغه دتوحید بې شمیره نښې دی د کوم نه چه صفا ښکاره معلومیږی چه د ټولوخالق دټولومالك د ټولو پالونکې اود ټولو حفاظت کونکې هم هغه دې هم هغه د آسمان نه رزق یعنی باران راوروی په کوم سره چه د هرقسم غلې فصلونه قسم قسم عجیبه عجیبه خوند اومختلف رنګ شکل اوصورت میوې دانې اوګلونه پیداکیږی.سره د دې چه اوبه یو اوزمکه هم یوه. په دې سره هم د هغه شان ښکاره دې او ربښتیا خودا دی چه عبرت نصیحت فکر اوغور خو هم هغوی ته نصیب کیږی چه د الله ﷻ طرف ته رغبت او رجوع کونکی وی.اوس تاسو دعاعبادت په خلوص صرف د یوالله ﷻ د پاره کوئی د مشرکانو د مذهب

---

(۱) ۶/الانعام:۲۷.
(۲) ۳۵/فاطر:۳۷.خ.

Scanned with Ca

اومسلك نه جداشئی. حضرت عبدالله بن زبیرﷺ به د هر فرض مانځه د سلام ګرځولونه پس دا لوستل ﴿لااله الاالله وحده لاشریك له له الملك وله الحمد وهوعلی کل شئ قدیر لاحول ولاقوة الابالله لااله الاالله لانعبد الاایاه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لااله الاالله مخلصین له الدین ولوکره الکفرون﴾ اوفرمائیل ئی چه رسول الله ﷺ به هم دا د هر مانځه نه پس لوستل (مسنداحمد) داحدیث په مسلم او ابوداؤدوغیره کښې هم شته[1] ابن ابی حاتم کښې دی د الله ﷻ نه دعااوکړئی اود قبلیدو پوره یقین ساتئی اویادساتئی چه الله ﷻ بې پرواه دې اود بل طرف ته دمشغول زړه نه اوری. ([2])

رَفِيعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ	
هغه داوچتو درجو مالك دی | مالك دعرش دی |	
هغه دمرتبو اوچتونکی دی | دعرش مالک دی	
يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ عَلٰى مَنْ يَّشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ	
نازلوی روح | په حکم خپل سره | په هغه چا | چی غواړی ئی هغه | دبندګانو خپلو نه	
هغه په خپلو بندګانو کښې چې په چا اوغواړی په هغه باندې خپله وحی راولیږی | چې	
لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ۝ يَوْمَ هُمْ بٰرِزُونَ ۚ	
دپاره ددې چی اویروی خلق | دورځې دملاقات نه | هغه ورځ | چی ټول خلق به بې یر دی وی	
خلق، دملاقات (دحشر) د ورځې نه اوویریږی | په کومه ورځ چې به ټول خلق (دقبرونونه) بهر راوځی	
لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۭ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۭ	
نۀ به وی پټ | په الله باندې | ددوئ نه | هیڅ څیز | چالره ده بادشاهی | نن ورځ | الله لره ده	
دالله ﷻ نه به ددوئ هیڅ خبره پټه نه وی | (ټپوس به کولې شی) چې نن ورځ د چا بادشاهی ده؟	
لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ۝ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ	
چې یو دی | قهار یعنی زبردست دی | نن ورځ به | بدله ورکړې کیږی | هر نفس ته	
بس صرف دالله ﷻ بادشاهی ده | چې یو او غالب دی | نن به هر سړی ته دخپل عمل بدله ورکولې شی	
بِمَا كَسَبَتْ ۭ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝	
دهغه عمل چی کړې وی هغه | نشته ظلم نن ورځ | بیشکه الله | زراغستونکی دی دحساب	
(اوپه چاباندې به) نن هیڅ زیاتې نشی کولې | یقینا الله ﷻ ډیر زر حساب اخستونکی دی	

قوله تعالی:: رَفِيعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ

د قیامت په ورځ به د الله ﷻ بادشاهی وی:- الله ﷻ خپله لوئی عظمت اود خپل عرش لوئی او وسعت بیان فرمائی چه په ټول مخلوق باندې لکه د چت خور دی. ارشاد باری ﷻ دی ﴿مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ۝﴾ ([3]) یعنی

---

[1]) احمد:٤/٤، صحیح مسلم کتاب المساجد باب استحباب الذکر بعد الصلاة وبیان صفته:٥٩٤، ابوداؤد:١٥٠٦، ابن حبان:٢٠٠٨.

[2]) ترمذی کتاب الدعوات باب نمبر٦٥، حدیث:٣٤٧٩

[3]) ٧٠/المعارج:٣.

Scanned with Ca

هغه عذاب به د الله ﷻ د طرف نه وی چه د پاورځینو والا دي فرښتې او روح هغه له ورځیژی ورځی په داسې ورځ کښې چه د هغې اندازه د پنځوسوزروکالوده اود دې خبرې بیان به ان شاء الله وړاندې راځی چه فاصله د اوومې زمکې نه واخله ترعرش پورې ده(۱)لکه چه د سلفو اوخلفو د جماعت یو قول دې او هم دا راجح هم دې ان شاء الله. د ډیرو مفسرینو نه روایت دې چه عرش د سرو یاقوتودې. دکومو د دوو غارو فاصله چه د پنځوسوکالوده اودکوم اوچتوالې چه داوومې زمکې نه پنځوس زره کاله دې.اود دې نه په وړومبی حدیث کښې چه د فرښتو د عرش اوچتول ذکر دی داهم تیرشوې دې چه داووه واړواسمانونونه هغه ډیر اوچت اوبره دې هغه چه په چاباندې غواړی وحی رالیږی.لکه چه ارشاد دې ﴿يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اَنْ اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ۝﴾ (۲)هغه فرښتو ته وحی ورکوی اوچاله چه غواړی لیږی چه ته خلق خبرکړه زما نه بغیربل معبودنشته مانه ویریږئی. بل ځای ارشاد دې ﴿وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝﴾ (۳)یعنی داقرآن پاك د ټول جهان درب نازل کړې شوې دې کوم چه معتبر فرښتې ستاپه زړه کښې راکوزکړې دې دې د پاره چه ته ویرونکې جوړشې. دلته هم هغه بیان اوشو چه هغوی د ملاقات د ورځې نه اوویروه(۴)حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه داهم د قیامت یونوم دې په کوم سره چه الله ﷻ خپل بندیګان اوویرول. په کوم کښې چه به حضرت آدم ﷺ پخپله اودهغه د اولاد نه د ټولو نه آخری ماشوم یوبل سره ملاویږی. ابن زید رحمه الله فرمائی بندیګان به الله ﷻ سره ملاویږی. قتاده رحمه الله فرمائی آسمانونووالا اوزمکې والا به یوبل سره ملاویږی. خالق اومخلوق ظالم اومظلوم به ملاویږی. مقصدا چه هریوبه بل سره ملاقات کوی بلکه عامل اودهغه عمل به هم ملاویږی. نن به ټول د الله ﷻ په وړاندې وی په هغه ورځ به الله ﷻ پخپله فرمائی نن د چابادشاهی ده؟ څوك به چه صرف جواب ورکړی؟ پخپله به الله ﷻ جواب ورکړی چه د هغه الله ﷻ چه د همیشه نه واحد اواحددې او په ټولو باندې غالب حکمران دې. اول حدیث تیر شوې دې چه الله ﷻ به آسمان اوزمکه راغونډکړی او په خپل لاس کښې به ئې واخلی اوفرمائی به زه بادشاه یم زه جباریم زه متکبریم د زمکې بادشاهان جبار او متکبران نن چرته دی؟ (۵)د صور په حدیث کښې دی چه الله ﷻ عزوجل کله د ټولومخلوق روح قبض کړی اود هغه وحده لاشریك له نه بغیربل څوك پاتې نه شی. هغه وخت به دې خل فرمائی نن ملك د چا دې؟بیابه هم پخپله جواب ورکړی دالله ﷻ یوازې غالب یعنی دهغه چه واحددې.دهغه چه په هر یو څیز باندې غالب دې د چا په ملکیت کښې چه هریوځیزدې. ابن ابی حاتم کښې د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې د قیامت د قایمیدوپه وخت کښې به یوآواز کونکې آوازکوی خلقو قیامت راغلوکوم چه به مړی اوژوندی ټول اوری.الله ﷻ به د دنیاپه آسمان باندې په خپل شان سره نزول کوی اووائی په چه نن د چا بادشاهی ده؟ صرف د الله ﷻ چه یودې اوغالب دې. بیا د الله ﷻ د عدل اوانصاف بیان کولې شی. په هغه ورځ به لږشان هم ظلم نه شی کولې بلکه نیکئی به لس لس چنده زیاتې ملاویږی اوبدئی به هم دومره وی دصحیح مسلم شریف حدیث دې رسول الله ﷺ د الله ﷻ ارشاد نقل کوی ای زما بندیګانوما په خپل ځان باندې هم ظلم حرام کړی دې اوپه تاسو باندې مې هم حرام کړې دې نوپه تاسوکښې دې څوك هم په بل باندې ظلم نه کوی. په آخره کښې دی ای زما بندیګانو داخوستاسو خپل اعمال دی کوم

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الصلاة النبی صلی الله علیه وسلم ودعائه باللیل:۷۷۰، ابوداود : ۷۶۷، ابن ماجه: ۱۳۵۷، احمد:۶/۱۵۶، ابن حبان : ۲۶۰۰، نسائی: ۱۶۲۶.

(۲) ۱۶/النحل:۲.

(۳) ۲۶/الشعراء:۱۹۲.

(۴) الطبری:۲۱/۳۶۴.

(۵) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین باب صفة القیامة والجنة والنار:۲۷۸۸.

Scanned with Ca

ته چه زه ګورم اوتاسوله به پوره بدله درکوم. څوک چه نیکی اوکړی نو د الله ﷻ حمد دي بیانوی اوچه څوک دي نه علاوه وی نوهم خپل ځان دي ملامته کړی(۱)بیائی خپل حساب اخستل بیان کړه چه د ټول مخلوق نه حساب اخستل هغه ته داسي دی لکه چه د یوکس نه حساب اخلی. لکه چه ارشاد باری ﷻ دي ﴿مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾(۲)یعنی د ټولوپیداکول اوتاسو ټول مړه کولونه پس ژوندی کول زماپه نیز هم دیوکس پیداکول اودیوکس مړکولوبرابراویو شان دی.بل آیت کښې د الله ﷻ فرمان دي﴿وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ﴾(۳)یعنی زمونږ حکم سره کار کیږی په دومره ساعت کښې لکه چه چا سترګه بند کړه اوکولاونی کړه.

وَأَنْذِرْهُمْ	يَوْمَ الْآزِفَةِ	إِذِ الْقُلُوبُ	لَدَى الْحَنَاجِرِ	كَاظِمِينَ ۚ
اواویروه دوئ	دورځې نزدې نه	کله چې به زړونه	راختلی وی مرئ ته	غمژن به وی
اوائې پیغمبره دوئ د نزدې راتلونکې ورځې دمصیبت نه اوویروه				چې زړونه بهٔ ترځولې شی
مَا لِلظَّالِمِينَ	مِنْ حَمِيمٍ	وَلَا شَفِيعٍ	يُطَاعُ ۚ	
نهٔ به وی دپاره دظالمانو	څوک خوږدوست	اونهٔ شفاعت کونکې	چې خبره اومنلې شی دهغه	
اوساکانې به لنډې شی	اوپه دغه ورځ به دظالمانو دپاره هیڅ دوست نه وی	اونه څوک سفارشی چې دهغه خبره			
يَعْلَمُ	خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ	وَمَا	تُخْفِي الصُّدُورُ ۝	وَاللَّهُ
پوهیږی الله تعالی	په خیانت د سترګو ا او په هغه چې پټوی یئ سینې			او الله تعالی
واوری	الله ﷻ د سترګو په غلا اود زړونو په پټو رازونو ښه پوهیږی			.....اوالله ﷻ به
يَقْضِي	بِالْحَقِّ ۗ	وَالَّذِينَ	يَدْعُونَ	مِنْ دُونِهِ	لَا يَقْضُونَ
حکم (فیصله)کوی	په حقه سره	او هغه	چې رابلی نې دوئ	پې دالله نه	هغوئ فیصله نهٔ شی کولې	
په انصاف سره فیصله اوکړی|اودوئ چې دهغه نه سوا د نور چا بلنه کوی| نوهغوئ هیڅ فیصله نه				
بِشَيْءٍ ۗ	إِنَّ اللَّهَ	هُوَ السَّمِيعُ	الْبَصِيرُ ۝	
دهیڅ څیز	بیشکه الله چې دې	هغه اوریدونکې دې	لیدونکې دې	
شی کولې	بیشکه الله ﷻ هر څه وینی او ګوری|			

قوله تعالی:: وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْآزِفَةِ

د قیامت د سختو بیان او د ازفه مطلب:- ﴿الْآزِفَةُ﴾ د قیامت یونوم دي. ځکه چه هغه ډیرنیزدې دي لکه چه ارشاددي﴿ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ۝ ﴾(۴)الخ یعنی نیزدې راتلونکې رانیزدې شوې دي د کوم ښکاره کونکې چه

---

(۱) صحیح مسلم کتاب البروالصلة باب تحریم الظلم:۲۵۷۷، ترمذی:۲۴۹۵،ابن ماجه:۴۲۵۷، احمد:۵/۱۶۰، ابن حبان:۶۱۹.

(۲) ۳۱/لقمان:۲۸.

(۳) ۵۴/القمر:۵۰.

(۴) ۵۳/النجم:۵۷.

Scanned with Ca

بغیرد الله ﷻ نه بل څوك نشته. بل ځای ارشاددي ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ﴾ (۱). قیامت نیزدي راغلو او سپوږمۍ اوشلیدله. بل ارشاد دي ﴿اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ﴾ (۲) د خلقو د حساب وخت نیزدي راغلو. بل ارشاد دي ﴿أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ (۳) د الله ﷻ امر راغلي دي تاسو پدي کښې تندی مه کوئ. یوبل آیت کښې دی ﴿فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيئَتْ وُجُوهُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَقِيلَ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تَدَّعُونَ﴾ (۴) کله چه دانیزدي اوګوری نود کافرانو مخونه به تك تور شي.

غرض دا چه هم د دي نیزدیوالی په وجه دقیامت نوم ﴿ازْلَفَةُ﴾ دي. هغه وخت به اینې ځلي له راشي هغه ویره به وی چه د چا زړه به په ځای نه اودریږی په ټولو به د غضب خاموشی وی. د چا د ځلي نه به یوه خبره هم نه اوخی دچاځه مجال چه بغیر اجازت شوندي اوخوزوی. ټول به ژاړی اوحیران اوپریشان به وی. کوموخلقو چه الله ﷻ سره شرك کړي هغوی په خپل ځان ظلم کړي دي د هغوی به نن هیڅ غم خوار او دوست نه وی چه د هغوی په کارراشی. نه به شفاعت کونکي اونه سفارش کونکي به وی چه د هغوی د شفاعت د پاره ژبه اوخوزوی بلکه د هري ښیګړي اسباب به پرې کړي شوي وی.

قوله تعالی:: يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ

د سترګوخیانت اود سینې راز ::دهغه الله ﷻ علم محیط دي ټولې لوڼې وړې پټې ښکاره نرې اوغټې خبرې په یوشان ښکاره دی. د دومره لوئی علم د مالك چه د هغه نه هیڅ یو ځیز پټ نه وی هریوسړی له ویریدل پکاردی اوبه یووخت کښې هم دا خیال نه دی کول پکار چه دي وخت کښې هغه زما نه پټ دي اوزمادحال هغه ته خبر نشته بلکه هروخت دي دایقین کوی چه هغه ماته ګوری دهغه علم ماسره دي د دي لحاظ دي کوی اودهغه دمنع کړي شوی کارونونه دي منع شی. سترګي چه دخیانت دپاره اوچتیږی که په ظاهره باندي هغه امانت ښکاره کوی خود علیم رب نه هغه پټ نه دی. د سینې په کوم ګوټ کښې چه کوم یوخیال پټ وی اوپه زړه کښې چه کومه خبره په پټه سره راوچتیږی د هغې هغه ته علم دي.

ابن عباس ﷺ فرمائی په دي آیت کښې مرادهغه سړي دي مثلاً چه یوکورته لاړو هلته یوه ښائسته ښځه ده یاهغه ځی راځی اودي دسترګي په ګوټ کښې هغې ته ګوری راګوری کوم ځای چه دچا نظر پریوځی نودي نظر اوګرځوی اوچه کله ئی موقع اوموندله نوسترګي اوچتوی اوګوری نودخیانت کونکي سترګي خیانت اود هغه د زړه راز الله ﷻ ته چه علیم رب دي ښه معلوم دي چه د هغه په زړه کښې خو دادی که ممکن وی نوچه پټ اندام ئی هم اوګوری. حضرت ضحاك رحمه الله فرمائی دي نه مراد سترګه وهل اواشارې کول بغیرد کتونکی ځیز کتل یا لیدلې ځیز لیدونکي یا لیدونکي نالیدلې جوړوي. (۵)

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی نظرچه په کوم یونیت سره واچولي شی الله ﷻ ته ښکاره دي (۶) بیا په سینه کښې پټ خیال چه که موقعه ملاوشی اوطاقت ئی وی نودي به د بدکارئی نه هم منع نه شی نو دا هم هغه پیژنی. سدی رحمه الله فرمائی چه د زړونود وسوسو نه هغه خبردي. هغه په انصاف سره حکم کوی قادردي چه د نیکئی بدله نیکه ورکړی اود بدئی سزا خرابه ورکړی. هغه اوریدونکي او لیدونکي دي. لکه چه ارشاد دي هغه بدی کونکوته د هغوی د کولوسزا اونیکانوته به دهغوی دنیکئی بدله

---

(۱) ۵۴/القمر:۱.
(۲) ۲۱/الانبیاء:۱.
(۳) ۱۶/النحل:۱.
(۴) ۶۷/الملك:۲۷.
(۵) الطبری:۲۱/۳۶۹.
(۶) الطبری:۲۱/۳۶۹.

Scanned with Ca

ورکوی. کوم خلق چه دهغه نه بغیربل څوك رابلی که هغه بتان اوتصویرونه وی یاکه څه بل څه وی هغه دهیڅ څیز مالکان نه دی دهغوی حکومت نشته نوحکم اوفیصلې به څنګه کوی؟الله ﷻ د خپل مخلوق اقوال اوری د هغوی احوال ته ګوری. چاله چه غواړی لار ښائی چاله چه غواړی ګمراه کوی د هغه په دې کښې هم سراسر عدل اوانصاف دې.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا						
ایا اوګرزیدلی نه دی دوي						
ایا د ا خلق په زمکه کښې ګرځیدلی نه دی						
فِي الْأَرْضِ	فَيَنْظُرُوا	كَيْفَ كَانَ	عَاقِبَةُ	الَّذِينَ	كَانُوا	
په زمکه کښې	چې اوګورې	څرنګې وۀ	انجام	دهغه کسانو	چې ووه هغوئ	
چې اوګورې چې ددوئ نه وړاندې خلقو (چې دحق نه منکر وو) انجام څه شو						
مِنْ قَبْلِهِمْ ط	كَانُوا هُمْ	أَشَدَّ	مِنْهُمْ	قُوَّةً	وَآثَارًا	
مخکښې دوئ نه	ووۀ هغوئ	زیات سخت	ددوئ نه	په قوت کښې	او په ښښو پریښودو کښې	
هغه ددوئ نه په قوت کښې او د زمکې په مخ په ښښو پریښودو کښې زیات ووۀ						
فِي الْأَرْضِ	فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ	بِذُنُوبِهِمْ ط	وَمَا كَانَ	لَهُمْ		
په زمکه کښې	پس اونیول هغوئ لره الله	په سبب دګناهونو دهغوئ	او نه ووۀ	هغوئ لره		
نو الله ﷻ هغوی د خپلو ګناهونو په سبب راونیول	اوهیڅا دالله ﷻ د عذاب					
مِّنَ اللَّهِ	مِن وَّاقٍ ۝	ذَٰلِكَ	بِأَنَّهُمْ كَانَتْ	تَّأْتِيهِمْ		
دالله نه	هیڅوك بچ کونکې	دا انجام شو	په سبب ددې چې هغوئ ووۀ	چې راتلل به هغوئ ته		
نه بچ نه کړل	.....	دا خکه چې هغه ته به خپلو پیغمبرانو ښکاره ښښې راوړلې				
رُسُلُهُم	بِالْبَيِّنَاتِ	فَكَفَرُوا	فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ ط			
رسولان دهغوئ	د واضحه حکمونو سره	پس هغوئ انکار اوکړو	پس رااونیول هغوئ الله			
خو هغوئ به ترې انکار کولو	.....	نو الله ﷻ راونیول				
إِنَّهُ	قَوِيٌّ	شَدِيدُ الْعِقَابِ ۝	وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا	مُوسَىٰ		
بیشکه هغه	زور رور دې	سخت عذاب ورکونکې دې	او بیشکه اولیږلو مونږه	موسی		
یقینا هغه ډیر د طاقت خاوند دې	سخت عذاب ورکونکې دې	اومونږ موسی				
بِآيَاتِنَا	وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ۝	إِلَىٰ فِرْعَوْنَ	وَهَامَانَ	وَقَارُونَ		
دښښو زمونږ سره	او دلیل ښکاره سره	فرعون ته	او هامان ته	او قارون ته		
دخپلو ښښو او ښکاره دلیل سره اولیږلو	(یعنی مونږ دوئ) فرعون اوهامان او قارون ته (پیغام دحق سره اولیږل)					
فَقَالُوا	سَاحِرٌ	كَذَّابٌ ۝	فَلَمَّا	جَاءَهُم	بِالْحَقِّ	
پس اوونیل هغوئ	جادوګر دې	دروغژن دې	پس هر کله چې	راغې هغه	هغوئ ته	دحق سره
نوهغوئ اووئیل چې دا جادو ګردې غټ دروغژن دې	انوځه وخت چې موسی زمونږ دطرفنه حق راوړو					

Scanned with Ca

مِنْ عِنْدِنَا	قَالُوا	اقْتُلُوْٓا	اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
دطرفه زمونږ نه	نو اووئيل هغوئ	چې اووژنئ	خامن دهغه کسانو	چې ايمان نې راوړې دې
نو هغوئ اووئيل	چا چې ددۀ سره (په الله ﷻ باندې) ايمان راوړې دې	د هغوئ خامن قتل کړئ		
مَعَهٗ	وَاسْتَحْيُوْا	نِسَآءَهُمْ ؕ	وَمَا كَيْدُ	الْكٰفِرِيْنَ	اِلَّا
دهغه سره	او ژوندئ پريږدئ	ښځې دهغوئ	اونۀ دې تدبير	دکافرانو	مګر
اولونږه نې ژوندئ پريږدئ	.....			اود کافرانو تدبير بې اثره لاړو	
فِيْ ضَلٰلٍ ۝	وَقَالَ فِرْعَوْنُ	ذَرُوْنِيْٓ	اَقْتُلْ مُوْسٰى
په ګمراهئ کښې (يعنې بې اثره)	اووئيل فرعون	چې پريږدئ ما	چې اووژنم موسى
او فرعون اووئيل چې ماپريږدئ چې موسى ﷺ قتل کړم	اوبيا دې هغه خپل رب (مدد دپاره)		
وَلْيَدْعُ	رَبَّهٗ ۚ	اِنِّيْٓ اَخَافُ	اَنْ يُّبَدِّلَ	دِيْنَكُمْ
او دې د رااوغواړي	رب خپل	بيشکه زۀ يريږم	چې بدل به کړي دې	دين ستاسو
راوغواړي	زه په دې ويريږم چې ستاسو دين به بدل کړي			
اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ	فِي الْاَرْضِ	الْفَسَادَ ۝	وَقَالَ مُوْسٰٓى	اِنِّيْ عُذْتُ
يا به راپورته کړي	په زمکه کښې	فساد	اواووئيل	موسى	بيشکه ما پناه اغستلې ده
اويا به په ملک کښې (بل څه) فساد پيدا کړي	موسى ﷺ اووئيل چې زه دخپل رب			
بِرَبِّيْ	وَرَبِّكُمْ	مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ	لَّا يُؤْمِنُ	بِيَوْمِ الْحِسَابِ ۝ ع
درب خپل سره	او درب ستاسو سره	دهر تکبر کونکې نه	چې ايمان نۀ لري	په ورځ دحساب
اوستاسو درب پناه غواړم دهر متکبر نه	چې د حساب په ورځ يقين نه ساتي			

قوله تعالى:: اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

د نافرمانه قوم انجام: الله ﷻ فرمانې اې نبى ﷺ آيا ستاد رسالت تکذيب کونکو کافرانوستا نه د وړاندې رسولانوتکذيب کونکو کافرانودحالت کتنه اخواديخواپه ګرځيدو سره نه ده کړې؟ چه د هغوى نه زيات طاقتور قوى اوجثه دار وو. دچادمکانونواوعمارتونوکنډرې چه تراوسه پورې موجود دى چه هغوى سره دپرغرور کښې وود هغوى نه په لوئ عمرکښې وو کله چه د هغوى دکفر او ګناهونو په وجه په هغوى باندې د الله ﷻ عذاب راغلو نونه چاهغه اخواکړې شواونه په چاکښې د مقابله طاقت وواونه د دې نه د بچ کيدوڅه صورت راووتلو. په هغوى باندې د الله ﷻ د غضب راپريوتلو وجه دا شوه چه هغوى له هم د هغوى رسولانوواضحه اوصفا دليلونه اوروښانه حجتونه راوړلې راغلې ووسره د دې هغوى کفر اوکړود څه په وجه چه الله ﷻ هغوى هلاک کړل اود کافرانود پاره نې د عبرت ذريعه جوړ کړل. الله ﷻ د پوره طاقت والاسخت نيولووالااوسخت عذاب والا دې. زمونږ دعاده چه هغه دې مونږله دخپلوټولو عذابونو نه خلاصې راکړې. (آمين)

قوله تعالى:: وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا

د موسى ﷺ د قتل فرعونى منصوبه:- الله ﷻ خپل آخرى رسول ﷺ ته د تسلئ ورکولود پاره د وړاندينو رسولانو قصې بيانوى لکه څنګه چه آخر کار فتح اوکاميابى هم د هغوى سره وه دغه شان ته هم د دې

Scanned with Ca

کافرانو نه هیڅ اندیښنه مه کوه. زما امداد تاسره دي. اخرکاربه هم ستا بهتری اواوچتوالي وی کله چه حضرت موسی بن عمران ﷺ واقعه ستا په وړاندي ده چه مونږ هغه په دلائلواوثبوتونوسره د قبطیانو بادشاه فرعون طرف ته چه د مصر بادشاه وو اولیکلو اود هامان طرف ته چه د هغه وزیراعظم وو. اود قارون طرف ته چه په هغه زمانه کښي د ټولونه زیات دولت مندوو اود سوداګرو بادشاه به ګڼلې شو. دي بدنصیبود الله ﷻ دا زبردست رسول دروغ اوګڼلو د هغه سپکاوي اوکړواوصفانی اوونیل چه دا خوجادوګراودروغژن دي. هم دغه جواب د کافرانود طرف نه د وړاندینو امتونوانبیاء کرامو علیهم السلام ته ملاویدلو.

لکه ارشاد دي ﴿ كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُوا۟ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴾[1] الخ. یعنی دغه شان د دوی نه وړاندي هم چه څومره رسولان راغلی دی ټولوته د هغوی قوم هم داوئیلی چه جادوګریالیونې. آیا هغوی په دي باندي څه په غونډه کښي اتفاق کړي وو؟ په اصل کښي دا ټول په ټول سرکش خلق دی. کله چه زمونږ رسول موسی ﷺ هغوی له حق راوړو اوپه خپل رسالت باندي ئی زبردست دلیلونه قایم کړل نو هغه خلق رسولان تنګول اوهغوی ته تکلیفونه ورکول شروع کړه. فرعون حکم اوکړو چه په دي رسول باندي څوك ایمان راوړی اوهغوی کره چه کوم هلکان وی هغه قتل کړئی اوکومې جینکئی وی هغه پریږدئی. دي نه وړاندي هم هغه داحکم جاری کړي ووخکه چه د هغه دا ویره وه چه چرته موسی ﷺ پیدا نه شی. د دي د پاره چه د بنی اسرائیلو تعدادکم کړی اوهغوی کمزوري کړی او بې طاقته ئی کړی. اوممکن دی چه دواړه مصلحتونه ئی مخې ته وو اواوس د بیاحکم کولو توجوئی هم دي طرف ته وه چه دا ډله مغلوب وی اود هغوی شمیرزیات نه شی خوار اوذلیل وی بلکه د هغوی خیال وی چه زمونږ د دي مصیبت ذریعه حضرت موسی ﷺ دي. بنی اسرائیلو حضرت موسی ﷺ ته وئیلي هم ووچه ستاد راتلونه وړاندي هم مونږ ته تکلیفونه راکولې شو اوستاسو د راتلونه پس هم مونږ تنګولې شو. هغوی جواب ورکړو تاسو تندی مه کوئی ممکن دی چه الله ﷻ ستاسو دښمن تباه کړی اوتاسو د زمکې خلیفه ګان جوړکړی بیابه ګورو چه تاسو څنګه عمل کوئې؟

قوله تعالی:: قَالُوا اقْتُلُوٓا أَبْنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ

د حضرت قتاده رحمه الله قول دي چه د فرعون داحکم په دویم ځل وو.[2] الله ﷻ فرمائی چه د کافرانودا دهوکه اودهغوی دا پالیسی چه بنی اسرائیل فناشی بې فائدي اوفضول وه. د فرعون یوډیر خراب قصد بیانولې شی چه هغه دموسی ﷺ دقتل کولواراده اوکړه اوخپل قوم ته ئی اوونیل چه زه موسی ﷺ قتل کوم ستاسوعادتونه اورسمونه به تاسونه هیرکړی اوپه زمکه کښي به یوفساد خورکړی. د دي د پاره په عربوکښي دامثل مشهور شو (صارفرعون مذکرًا) یعنی فرعون هم وعظ کونکي جوړشو. بعضې قراءتونو کښي په ځای د ﴿ان یظهر﴾ ﴿یظهر﴾ دي. موسی ﷺ ته چه کله د فرعون دابده اراده معلومه شوه نو هغوی اوفرمائیل چه زه د هغه نه اود هغه په شان بدوخلقو نه دالله ﷻ پناه کښي راځم. اې زما مخاطب خلقو زه د خپل اوستاسو د رب په پناه کښي راځم د هریوهغه سړی نه د تکلیف رسولونه چه د حق نه کبرکونکي اود قیامت په ورځ باندي ایمان نه لرونکي وی. په حدیث شریف کښي دی کله چه به رسول الله ﷺ ته د یوقوم نه خوف وو نودا دعا به ئی فرمائیله ﴿اللهم انانعوذبك من شرورهم ونذرابك فی نحورهم﴾ اې الله د هغوی د بدئی نه مونږ ستا په پناه کښي راځو اومونږ تا د هغوی په مقابله کښي کوو.[3]

---

[1] ۵۱/الذریت:۵۲.

[2] الطبری:۳۷۳/۲۱.

[3] ابوداؤد کتاب الوتر باب مایقول الرجل اذاخاف قوما:۱۵۳۷ حاکم:۱۴۲/۲، احمد:۴۱۴/۴، ابن حبان:۴۷۶۵

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ

او اوونيل | يو سړی مومن | دال فرعون نه | چې پټوؤ نې | ايمان خپل | آيا تاسو وژنئ |

اود فرعون د قوم نه يو مومن اووئيل | چې خپل ايمان به ئې پټ ساتلو | آياتاسو يو داسې

رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

يو سړی | چې وائی هغه | رب زما الله دی | او بيشکه راغلی دی تاسو ته | دواضحه نښو سره |

سړی وژنئ | چې هغه وائی چې زما رب الله ﷻ دی | اوتاسوته ستاسو د رب د طرفه په ښکاره دلائلو

مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ يَّكُ

دطرفه درب ستاسو نه | او که وی هغه | دروغژن | نو په هغه دی | دروغ دهغه | او که وی هغه |

سره راغلی دی | نو که دی دروغژن وی | نو ددهٔ د دروغووبال به هم په دهٔ پربوځی | اوکه رښتينی

صَادِقًا يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

رښتينی | نو رسيږی به تاسو ته | ځينی دهغه عذاب نه | چې يروی دی تاسو دهغې نه | بيشکه الله |

وی | نو د هغه عذاب نه به دربانديږ راشی | چې تاسو ترې يروی | بيشکه الله تعالی هغه چاته نيغه لار نه

لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ۝ يٰقَوْمِ لَكُمُ

نه ښائی لار | هغه چاته | چې هغه دحدنه اوړيدونکی وی | دروغژن وی | اے قومه زما | تاسو لره ده

ښائی څوک چې د حدنه تيريدونکی اوغټ دروغژن وی | ..... ائی زما قومه

الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۫ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا

بادشاهی | نن ورځ | چې غالب يئ | په زمکه کښې | پس څوك به امداد اوکړی زمونږ سره |

نن خو بادشاهی ستاسوده | چې په دې ملک کښې حاکمان يئ | نو که دالله ﷻ عذاب

مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَآءَنَا ؕ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ

دعذاب دالله نه | که راغلی مونږ ته | اووئيل فرعون | نه درکوم رائې زهٔ تاسو ته | مګر هغه

راشی | څوک به مونږ دالله ﷻ د عذاب نه بچ کړی ؟ | فرعون اووئيل زه خوبس تاسو ته هغه رائې

اَرٰى وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ۝

چې ښکاری ماته (مناسب) | اونه کوم ښودنه تاسو ته | مګر دلارې صحيح |

درکوم | کومه چې ماته رښتيا ښکاری | اوبله دا چې زه تاسو ته دمصلحت نه وکه لار ښايم

قوله تعالی:: اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ

د يونااليدلی مومن مجاهدانه اقدام:-مشهوره خو هم دا ده چه هغه مؤمن قبطی وو اود فرعون د خاندان نه وو.بلکه سدی رحمه الله خوفرمائی چه د فرعون د تره خوئ وو اوداهم وئيلې شوی دی چه هغه هم حضرت موسی عليه السلام سره خلاصې بيامومندلې وو. امام ابن جرير رحمه الله هم داقول خوښوی. بلکه د کومو خلقو چه دا ويناده چه داموٴمن هم اسرائيلی ووهغوی د دوی تردیدکړې اوفرمائيلې دی که اسرائيلی وو نو نه به فرعون د هغه دومره په صبرسره نصيحت اوريدلو اونه به د حضرت موسی عليه السلام د قتل د ارادې نه منع

کیدلو بلکه هغه ته به ئی تکلیف رسولو. د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دي چه د ال فرعون خو یو دا سړي ایماندار وو اوبل د فرعون بنخي ایمان راوړي وو دریم هغه سړی کوم چه حضرت موسی ﷺ ته خبرورکړي وو چه د سردارانو مشوره ستاسود قتل کولوروانه ده. ده به خپل ایمان پټولوخود موسی ﷺ د قتل اوریدوسره چپ پاتي نه شو اوهم دغه په حقیقت کښي د ټولونه بهتر او غوره جهاد دي چه د ظالم بادشاه په وړاندې د حق کلمه اووائی لکه چه حدیث(۱)کښي دی اود فرعون په وړاندې د دې نه لویه کلمه بله هیڅ نه وه. نوداسړي د ډیرې لوئ مرتبې مجاهدوو د چاد مقابله چه هیڅ مثال نه وو. البته په صحیح بخاری شریف کښي وغیره کښي یوه واقعه په څوروایتونوسره نقل ده د کومې محاصل چه دادي حضرت عروه بن زبیر ﷺ د حضرت عبدالله بن عمروبن عاص ﷺ نه یوځل تپوس اوکړوچه د ټولونه لوئ تکلیف رسول الله ﷺ ته دمشرکانونه څه رسیدلي دي؟هغوی اوفرمائیل واوره یوځل حضور ﷺ په کعبه شریفه کښي مونځ کولو چه عقبه بن ابی معیط راغلو حضور ﷺ ئی اونیولو اوپه خپل څادرکښي ئی ول واچولودحضور ﷺ په ستړ مبارک کښي واچولو اورانبکلونی په څه سره چه د حضور ﷺ مرئی مبارکه خفه شوه. هم هغه وخت حضرت صدیق اکبر ﷺ راغلو اوهغه له ئی دیکه ورکړه اواخوائی اوغورزولو اووئی فرمائیل چه آیا ته داسړي قتل کول غواړې چه وائی زمارب الله ﷻ دي اوهغه تاسو له دلیلونه راوړلی دی راغلي دي(۲)یوبل روایت کښي دی چه دقریشوګنړه راجمع وه کله چه حضور ﷺ په هغه څائ تیریدلو نو دوئ تپوس اوکړو چې هم ته ئی چه مونږ د خپل پلارانونیکونود معبودانود عبادت نه منع کوې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل او اوهم زه یم. په دې باندې هغه ټول حضور ﷺ پوري اونختل اوکپړې تري رانبکلي حضرت ابوبکر ﷺ راغلو حضور ﷺ ئی خلاص کړو اود سترګونه ئی اوښکې بهیدلې او په اوچت آواز سره ئی دا اوفرمائیل اود پوره آیت ﴿اَتَقْتُلُوْنَ﴾ تلاوت ئی اوکړو.(۳) نودې مؤمن هم دااووئیل چه دده قصور صرف هم دومره دي چه دې خپل رب الله ﷻ بنائی اوداځه چه وائی په دې باندې سنداودلیل پیش کوی. بنه ده اومنئی چه فرض کړه دې دروغژن دي نود ده د دروغو نقصان به هم په ده وی الله سبحانه وﷻ به ده ته په دنیا اوآخرت کښي سزا ورکوی اوکه چرې دې ربښتونې وی اوتاسو دې په تکلیف کړې وی نویقیناً په تاسوبه د الله ﷻ عذاب راځی لکه څنګه چه هغه وائی. نود عقل تقاضا دا ده چه تاسو دې پریږدئی څوک چه د هغه منی نومنی دې تاسو ولې د هغه ازار اخلئی. حضرت موسی ﷺ هم د فرعون اوفرعونیانونه هم دغه غوښتل.

لکه چه آیت ﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ۝ اَنْ اَدُّوْٓا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝ وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَي اللّٰهِ ۚ اِنِّىْٓ اٰتِيْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝ وَاِنِّىْ عُذْتُ بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ۝ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ فَاعْتَزِلُوْنِ ۝﴾(۴)دي یعنی مونږ د دوی نه اول د فرعون قوم ازمیښت کړو هغوی له مو عزت مندرسول راولیګلو هغه ونیل د الله ﷻ بندیګان ماته حواله کړه زه ستاسو طرف ته د رب نه رسول امین یم تاسود الله ﷻ نه بغاوت مه کوئی ګورئی ما تاسو له کولاودلیلونه اوزبردست معجزې راوړی دی راغلي یم.تاسو به ماسنګسارکړئی نودې نه زه د الله ﷻ پناه غواړم.که تاسو په ماباندې ایمان نه راوړئی نوماپریږدئی. هم دارسول الله آخرزمان ﷺ خپل قوم ته فرمانیلي وودالله ﷻ بندیګانوته د الله ﷻ د طرف نه مارابللوته پریږدئی. تاسو زما دتکلیف رسولونه منع شئی اوزمادخپلولئی خیال کولوسره ماته تکلیف مه راکوئی.صلح حدیبیه په اصل کښي هم داځیز ووچه بنکاره فتح ورته وائی هغه مؤمن وائی چه واورئی اسراف کونکی اودروغژن سړی لارنه بیامومی.

---

۱) ابوداؤدکتاب الملاحم باب الامر والنهی:۴۳۴۴ وهوحسن، ترمذی:۲۱۷۴، ابن ماجه:۴۰۱۱.
۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المؤمن:۴۸۱۵، احمد:۲۰۴/۲، ابن حبان:۶۵۶۷.
۳) السنن الکبری:۱۱۴۶۲ومسنده صحیح.
۴) ۴۴/الدخان:۱۷-۲۱.

Scanned with Ca

هغوی سره د الله ﷻ امداد نه وی. د هغه اقوال او افعال ډیر زر د هغه خباثت ښکاره کوی. په خلاف د ده چه دانبی الله ﷺ داختلاف اواضطراب نه پاك دي په صحیح ربښتوني او ښه لاربانده دي.د ژبې ربښتوني او دعمل کلك دي. که دي د حد نه تیریدونکي او دروغژن وو نو په ده کښې به دا صداقت او دا ښکلي والي چرې هم نه وو. بیاقوم ته نصیحت کوی اوهغوی دالله ﷻ دعذاب نه ویروی. رونړو تاسو ته الله ﷻ د دي ملك بادشاهی درکړي ده ډیر عزت ئی درکړي ستاسو حکم ئی جاری کړي دي د الله ﷻ په دي نعمت باندي تاسوله د هغه شکر کول پکاردی اود هغه رسولان ربښتوني کنړل پکاردی. یادساتئی که تاسو ناشکری اوکړه اود رسول طرف ته مو خراب نظر اوکړو نویقینا به د الله ﷻ عذاب په تاسو راځی.اوښائي هغه وخت به څوك راولئی چه ستاسو په امداد باندي اودریږی اود الله ﷻ عذابونه رامنع کړی یائی روستو کړی؟ دالښکرې سامانونه به هیڅ په کاررانه شی د فرعون نه خو بل څه معقول جواب جورنه شو غلی شو او په قوم کښې خپله خیرخواهی خودل شروع کړه چه زه تاسو ته دهوکه نه درکوم کوم چه زماخیال دي اوزما په ذهن کښې دی هم هغه تاسو ته ښایم په حقیقت کښې داهم د هغه خیانت وو هغه ښه پوهیدلو چه موسی ﷺ د الله ﷻ ربښتوني رسول دي. لکه چه ارشاددي ﴿لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا﴾ (۱) یعنی حضرت موسی ﷺ اوفرمائیل چه ای فرعونه ته ښه پوهیږې چه داخاص عجائبات دآسمان اوزمکې پروردګار رالیګلي دی کوم چه د بصیرت ذرائع دی. یوبل آیت کښې دی ﴿وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ﴾ (۲) یعنی هغوئ سره دزړه د یقین د ظلم اوزیاتی په وجه سره انکاراوکړو.دغه شان د هغه دا وینا هم سراسر غلطه وه چه زه تاسو ته دحق د ربښتون ولئی او ښیګړې لارښایم پدي کښې هغه خلقوته دهوکه ورکوله او رعایاسره ئی خیانت کولو.خودهغه قوم د هغه په دهوکه کښې راغلو اودفرعون خبره ئی اومنله. فرعون هغوی څه د ښیګړې په لار وانچول خکه چه دهغه کار خوښیك وونه. بل خای دالله ﷻ ارشاد دي فرعون خپل قوم دهوکه کړو اوهغوی ئی صحیح لارته رسیدو ته پرینخودل اونه ئی اورسول. رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم یوامام خپل رعایا سره د خیانت لوبه کوی هغه چه مړشی نود جنت بوئی به هم نه بیا مومی سره د دي چه هغه خوشبو د پنځوسوو کالو په فاصله باندي راځی. (۳)

والله سبحانه وﷻ الموفق للصواب.

وَقَالَ الَّذِىٓ	ءَامَنَ	يَٰقَوْمِ	إِنِّىٓ أَخَافُ	عَلَيْكُم
اووونیل هغه سړی	چې ایمان ئې راوړي وو	اے قومه زما	بیشکه زه یریږم	په تاسو باندي
اوکوم سړی چې ایمان راوړي وو	هغه اووئیل چې ائې زما قومه ماسره ویره ده			چې د نورو
مِّثْلَ	يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ۝	مِثْلَ دَأْبِ	قَوْمِ نُوحٍ	وَعَادٍ	وَثَمُودَ
په مثل دعذاب	دورځې دډلو	په مثل دحال	دقوم دنوح	او دعادیانو	او ثمودیانو
قومونو پشان به درباندي بده ورځ راشی	پشان د نوح د قوم			اود عادیانو	اود ثمودیانو اود
وَٱلَّذِينَ	مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ	وَمَا ٱللَّهُ	يُرِيدُ	ظُلْمًا
او دهغه کسانو	چې روستو دهغوئ نه وو	اونه دی الله	چې اراده لری	دظلم کولو
هغو خلقو پشان چې د هغوی نه روسته وو	او الله ﷻ خپلو بندګانو باندي د ذرې هومره ظلم			

---

(۱) ۱۷/الاسراء: ۱۰۲.
(۲) ۲۷/النمل: ۱٤.
(۳) صحیح بخاری کتاب الاحکام باب من استرعی رعیة فلم ینصح: ۷۱۵۰، صحیح مسلم: ۱٤۲.

Scanned with Ca

لِلْعِبَادِ ﴿۳۲﴾ وَيٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ﴿۳۳﴾

دپاره دبندګانو خپلو | او اے قومه زما | بیشکه زه یریږم | په تاسو باندې | دورځې دچغونه |

کول نه غواړی | .....ائې زما قومه زه په تاسو باندې د چغو د ورځې نه ویریږم

يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ

هغه ورځ چې اوبه ګرځی تاسو | شاکونکی | نه به وی تاسو لره | دالله نه | څوک بچ کونکې |

په هغه ورځ چې تاسو به شا طرف ته تښتئ | دالله ﷻ د عذاب نه به مو څوک بچ کونکې نه وی

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۴﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ

او هغه څوک چې بې لارې ئې کړی الله | پس نه وی |هغه لره څوک لاربنودونکې |اوراغلې ووه تاسو ته

او څوک چې الله ﷻ بې لارې کړی | نو هغه څوک په لاره کولې نشی | .....اود دې نه وړاندې

يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ

یوسف |مخکښې ددې نه | دواضحه ښښو سره | پس همیشه به وئ | تاسو په شك کښې |

تاسوته یوسف ﷺ په ښکاره ښښو سره راغلې وو| نوتاسو ته چې هغه څه راوړی وو| تاسو همیش د

مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰٓى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ

دهغې نه چې هغه راوړې وؤ تاسو ته | تر دې پورې | کله چې | وفات شو هغه | نو اووئیل تاسو |

هغې نه په شک کښې وئ| .....تر دې چې هغه وفات شو| نو تاسو اووئیل

لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ

هر ګز به نه رالیږی الله | روستو دهغه نه | بل رسول | همدارنګې |بې لارې کوی الله | هغه څوک

چې هیڅ کله به الله ﷻ بل پیغمبر راونه لیږی | دغه شان الله ﷻ د حد نه تیریدونکی

هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ﴿۳۴﴾ ۚ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ

چې دحدنه اوړیدونکې وی|شك کونکې وی|بیشکه هغه کسان |چې جګړه کوی |په آیتونو دالله کښې

شک کونکی خلق دهدایت نه محروم ساتی | کوم خلق چې دالله ﷻ په آیتونو کښې د څه دلیل نه بغیر

بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ

بغیر دڅه دلیل نه | چې راغلې وی هغوئ ته | دا طریقه ډیره دغصې ده | په نز دالله |

کوم چې هغوی ته راغلی وی جګړې کوی | .....دا دالله ﷻ اودمومنانو

وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ

او په نزد دهغه کسانو | چې ایمان ئې راوړې دې | درانګې | مهروهی الله | په هر زړۀ باندې

په نیز ډیره دغصې خبره ده | دغه شان الله ﷻ د هر متکبر ظالم په زړه باندې مهر

Scanned with Ca

مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾

دمتکبر سړی ا

لګوی ا

قوله تعالی:: وَقَالَ الَّذِیْٓ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِیْلَ الرَّشَادِ

ذکر کامل مومن خبرې اترې :د دې مؤمن د نصیحت آخری حصه بیانولې شی هغه اوفرمانیل ګوره که تاد الله ﷻ درسول اونه منل اوپخپله سرکشۍ باندې کلك ولاړوې نوزه ویرېږم چه د وړاندینو قومونو په شان دالله ﷻ عذاب په تاباندې راپرینوځی.د نوح علیه السلام قوم عادیانوثمودیانو ته اوګوره چه د پیغمبرانو د نه منلوپه نقصان کښې په هغوی باندې څنګه عذابونه راغله؟ اوهیڅ څوك هم نه وو چه هغه ئی اخوا کړی وې یانی منع کړې وې. په دې کښې دالله ﷻ هیڅ ظلم نه وو اودهغه ذات په بندګانو باندې د ظلم نه پاك دې. دهغوی خپل کړه ووچه د هغوی د خان دپاره وبال اونقصان جوړشو. ماته د قیامت په ورځ د عذابونوهم ویره ده چه د شړلو رابللوورځ ده. دصور په حدیث کښې دی چه کله په زمکه کښې زلزله راشی اوبه شلیږی نوخلق به اخواديخوا په ویره او پریشانئی کښې وارخطا منډې وهی اویوبل ته به آوازونه کوی.دحضرت ضحاك رحمه الله قول دې چه داد هغه وخت ذکر دې چه کله دوزخ راوستلې شی او خلق دا اووینی ویرېږی به او منډې به وهی اوفرښتې به هغوی د محشر میدان ته واپس راولی. لکه چه د باری ﷻ فرمان دې ﴿وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآىِٕهَا ۚ وَیَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ یَوْمَىِٕذٍ ثَمٰنِیَةٌ ﴿۱۷﴾﴾[1] یعنی فرښتې به دهغې په غاړوباندې وی بل ارشاددې ﴿یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۳﴾﴾[2] یعنی ای انسانانواوپیریانوکه تاسو دآسمان اوزمکې د غاړونه د وتلو طاقت لرئی نو اوځئی تختئی خوداستاسود وس خبره نه ده. دحسن او ضحاك رحمهما الله په قراءت کښې ﴿یَوْمَ التَّنَادِ﴾ په شدسره دې. اوداماخوذ دې (نَدَّ البعیر)نه. کله چه اوښ لاړشی او سرکشی کوی نودا لفظ ورته وئیلې شی. وئیلې شوی دی چه په کومه تله کښې به وزن تللې شی هلته به یوه فرښته وی د چا نیکئی چه زیاتې شی نو هغه به په اوچت آوازسره چغه وهی وائی به فلانکې دفلانکی ځوئ نیك بخت شو اود نن نه پس به په هغه باندې بدبختی نه راځی. اوکه د هغه نیکئی کمې شی نوهغه فرښته آواز لګوی چه فلانکې د فلانکی ځوئ بدنصیب شو اوتباه بربادشو.قتاده رحمه الله فرمائی قیامت ته ﴿ یَوْمَ التَّنَادِ﴾ ځکه وئیلې شوې دی چه جنتیان به جنتیانوته اودوزخیان به دوزخیانوته آوازونه کوی اوپه اعمالوسره به نی رابلی اودا هم وئیلې شوی دی چه وجه دا ده چه جنتیان به دوزخیانوته وائی زمونږ رب چه مونږ سره کومه وعده کړې وه مونږ هغه رښتونې اومومندله. تاسو اوښائې تاسوهم د خپل رب وعده رښتونې اولیده؟ هغوی به جواب ورکړی چه او.دغه شان به دوزخیان جنتیانوته وائی چه مونږ له لږې شان اوبه راکړئی څه خومونږ ته راکړئی چه الله ﷻ تاسو ته درکړی دی. جنتیان به ورته جواب ورکړی چه د دې ځائ خوراك څښاك په کافرانوباندې الله ﷻ حرام کړی دی. دغه شان په سورت اعراف کښې هم دابیان دې چه د اعراف والا به دوزخیانواوجنتیانوته وائی بغوی رحمه الله وغیره فرمائی چه داټولې خبرې دی اوهم ددې په وجه د قیامت د ورځې نوم ﴿التَّنَادِ﴾ دې. هم دا قول ډیر ښکلې دې. والله اعلم.

---

[1] ۶۹/الحاقة: ۱۷.

[2] ۵۵/الرحمن: ۳۳.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ مَا

قیامت کښې به خلق د تیښتې کوشش کوی: په هغه ورځ به خلق شاکړی منډې وهی خود تیختې څه ځای به نه وی اوورته به وئیلې شی چه نن د اودریدو ځای هم دغه دې. په دغه ورځ به څوك نه وی چه بچ ئی کړې شی اود الله ﷻ د عذابونه ئی خلاص کړی. خبره دا ده چه دالله ﷻ نه بغیربل څوك قادرمطلق نشته چه هغه څوك ګمراه کړی نوهغه څوك په هدایت کولې نشی.دې نه وړاندې داهل مصردپاره یوسف ﷺ پیغمبر جوړشوې راغلی وو. د هغوی بعثت دموسی ﷺ نه اول شوې وو. عزیز مصر هم هغوی پخپله وو اوخپل امت به ئی الله ﷻ طرف ته رابللو خو قوم د هغه تابعداری نه کوله اود دنیاوی شان اوشوکت او وزارت په وجه به په ماتحتئی کښې پراته وو. نوفرمانی چه تاسو د هغه د طرف نه د نبوت په شك کښې ئی آخرچه کله د هغه وفات اوشو نوتاسوبالکل ناامیده شوئی او په طمع کولوسره مو وئیل چه اوس خوبه الله ﷻڅوك نبی نه جوړوی چه راوئی لیګی.داوود هغوی کفر اودهغوی تکذیب. دغه شان الله ﷻ هغوی ګمراه کوی چه بې ځایه کارونه کونکی د حدنه تیریدونکی او په شك شبه کښې اخته شوې وی.کوم خلق چه حق د باطل نه اخواکوی اوبغیرددلیل نه دلیلونه اخواکوی په دې باندې الله ﷻ دهغوی نه خفه دې او سخت ناراض دې. دهغوی داکارونه چه یوطرف ته دالله ﷻ دخفګان وجه ده نوبل طرف ته د ایماندارود پاره هم د ناخوښئی ذریعه ده. په کوموخلقو چه داسې بې هوده صفتونه وی د هغوی په زړه باندې الله ﷻ مهرلګوی.د څه نه پس چه نه هغوی ته نیکی ښه ښکاری اونه بدی بده ښکاری. هرهغه سړې چه د حق نه سرکشی کونکې وی کبرژن اوغرور کونکې وی. حضرت شعبی ﷺ فرمانی جبارهغه سړې دې چه دوه انسانان قتل کړی. د ابوعمران جونی او قتاده ﷺ فرمان دې که چا بغیرد حق نه څوك قتل کړوهغه جباردې. والله اعلم.

وَقَالَ	فِرْعَوْنُ	يٰهَامٰنُ	ابْنِ لِيْ	صَرْحًا	
دظالم سړی	اواووئیل فرعون	اے هامانه	جوړه کړه مالره	یوه مانړۍ	
اوفرعون اووئیل چې ائې هامانه ! مادپاره یوه اوچته مانړۍ جوړه کړه	شاید چې زه				
لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ	الْاَسْبَابَ ۙ	اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ	فَاَطَّلِعَ		
دپاره ددې چې اورسیږم زهٔ	لارو ته	لارو د آسمانونو ته	پس چې اووینم زهٔ		
په دې باندې په ختلو سره هغه لاروته اورسم	چې دآسمان دلارو سره (ملاویږی)	بیا د			
اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى	وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ	كَاذِبًا ؕ	وَكَذٰلِكَ	زُيِّنَ	
خدائې دموسی	او بیشکه زهٔ ګمان کوم په هغه	دروغژن	او درانکې	ښائیسته ښکاره کړې شوه	
موسی ﷺ الله ﷻ لږ اووینم	اوزه خو موسی ﷺ دروغژن ګڼرم	اودغه شان فرعون ته خپل			
لِفِرْعَوْنَ	سُوْٓءُ عَمَلِهٖ	وَصُدَّ	عَنِ السَّبِيْلِ ؕ	وَمَا كَيْدُ	فِرْعَوْنَ
فرعون ته	بدی دعمل دهغه	او منع کړې شو	دنیغې لارې نه	اونهٔ وؤ تدبیرونه	دفرعون
بدکارونه ښائسته ښکاریدل	اودنیغې لارې نه محرومه وو	..... اود فرعون هر یو تدبیرناکامه شو			
اِلَّا	فِيْ تَبَابٍ ۝				
مګر وؤ	په لار دتباهئ دهغه کښې				

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا
ذفرعون مکر اوفریب:-دفرعون سرکشی اوتکبربیانولې شی چه هغه خپل وزیرهامان ته اووئیل زما د پاره یو دیراوچت محل جوړکړه. دخښتو چونې یوپوخ او دیراوچت محل جوړکړه.لکه چه بل ځای دی هغه اوونیل اې هامان خښتې پخې کړه اوزماد پاره یواوچت محل جوړکړه. دابراهیم نخعی رحمه الله قول دې قبر پوخ جوړول او په هغې باندې چونې کول به سلفو صالحینو مکروه ګڼل (ابن ابی حاتم) فرعون به وئیل چه دامحل زه خکه جوړوم چه دآسمان دروازو اود آسمان لاروته زه اورسم اود موسی علیه السلام رب اووینم سره د دې چه ماته پته ده موسی علیه السلام دروغژن دې (نعوذبالله) اوداځه چه وائی چه دا رب رالیګلې دی دابالکل غلط دی.
په اصل کښې دا د فرعون یومکر او دهوکه وه اوهغه په خپل رعایاباندې دا ښکاره کوله چه ګورنی زه به داسې کار اوکړم چه په هغې سره به د موسی علیه السلام دروغ ښکاره شی. اوزما په شان به تاسو ته هم یقین پیداشی چه موسی غلطه ویناکونکې د خان نه خبرې کونکې اوکذاب دې فرعون د الله ﷻ د لارې نه رامنع کړې شو د هغه هریوتدبیراولټه شو اوچه کوم یوکار هغه کوی هغه د ده د پاره د نقصان جوړیږی اوپه خساره کښې زیاتیږی.

وَقَالَ الَّذِيْٓ	اٰمَنَ	يٰقَوْمِ		
او اووئیل هغه سړی | چې ایمان ئې راوړې وؤ | اے قومه زما |				
..... اوکوم سړی چې ایمان راوړې وو| هغه اووئیل چې ائې زما قومه!				
اتَّبِعُوْنِ	اَهْدِكُمْ	سَبِيْلَ	الرَّشَادِ ۚ	يٰقَوْمِ
پیروی اوکړئ زما | زه ښایم تاسو ته | لاره | دهدایت (نیکئ) | اے قومه زما |				بیشکه |
تاسو زما په لار روان شئ | زه به تاسوته دنیکئ لاره اوښایم | .....ائې زما قومه!				
اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا	مَتَاعٌ	وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ	هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ۝	
دا ژوند ددنیا | لږه نفعه ده | او بیشکه آخرت | هم هغه دې کور دقرارئ |				
داددنیا ژوند خو صرف د یو څو ورځو فائدې دی | اود اوسیدو اصلی ځائې خو آخرت دې				
مَنْ عَمِلَ	سَيِّئَةً	فَلَا يُجْزٰٓى	اِلَّا	مِثْلَهَا ۚ
چاچې چې عمل اوکړو | بد | پس بدله به نه ورکړې کیږی هغه ته | مګر | برابرئ دهغې |				
چا چې ګناه اوکړه | نو هغه ته به دهغه د عمل پوره سزا ورکولې شی				
وَمَنْ عَمِلَ	صَالِحًا	مِّنْ ذَكَرٍ	اَوْ اُنْثٰى	وَهُوَ مُؤْمِنٌ
او چاچې عمل اوکړو | نیك | دنارینو نه | یا دزنانونه | حال دا چې هغه مومن وی |				
اوچا چې نیک عمل اوکړو | که سړې وی اوکه ښځه | او هغه مومن هم وی |				
فَاُولٰٓئِكَ	يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ	يُرْزَقُوْنَ	فِيْهَا	بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝
پس دغه کسان | به داخلیږی جنت ته | رزق به ورکړې کیږی | په هغې کښې | بې حسابه				
نوهغه کسان به جنت ته داخلیږی | او هلته به هغوئ ته بې حسابه رزق ورکولې شی				

Scanned with Ca

وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ

او اے قومه زما | څه دی مالره | چی زهٔ رابلم تاسو | خلاصی ته | او تاسو رابلئ ما |

او وې وئیل چې ائې زما قومه دا څه چل دي چې زه خو تاسو دنجات طرفته رابلم | او تاسو مې

اِلَى النَّارِ ۝ تَدْعُوْنَنِيْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشْرِكَ بِهٖ

وور ته | تاسو رابلئ ما | چی زهٔ کفر اوکړم | دالله سره | او شریك جوړ کړم | دهغه سره |

دوزخ ته رابلئ |تاسوخومادې خبرې ته رابلئ |چې دالله ﷻ نه انکاراوکړم|اوداسې څیزورسره شریک کړم

مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۡ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ اِلَى الْعَزِيْزِ الْغَفَّارِ ۝

چی نشته مالره | په هغې | هیڅ علم | او زهٔ رابلم تاسو | غالب ښښونکی خدائې ته |

چې ماسره د هغې په باره کښې هیڅ دلیل نشته | او زه تاسو دغالب او ښښونکی الله ﷻ طرفته رابلم

لَا جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا

حقه خبره داده | چی بیشکه | چه تاسو رابلئ ما | دچا طرفته | نو نشته | هغه لره | بلنه | په دنیا کښې

دامنلې خبره ده | چې تاسوما کوم څیز ته رابلئ | هغه نه په دنیا کښې د بلنې لائق دې | اونه په آخرت

وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ مَرَدَّنَآ اِلَى اللّٰهِ وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ

اونهٔ په آخرت کښې | او بیشکه واپس تلل زمونږه | الله ته دی | او بیشکه دحدنه اوړیدونکی خلق |

کښې د بلنې لائق دې |اومونږ تول به الله ﷻ طرف ته واپس کیږو| او د حد نه وړاندې تیریدونکی تول

هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ۝ فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ؕ وَاُفَوِّضُ

هغوئ خاوندان دوور دی | پس زر ده چی یاد کړئ تاسو | هغه چی زهٔ وایم تاسو ته | او حواله کوم زهٔ

دوزخیان دی | .....نو هغه وخت لرې نه دې چې زما خبرې به رایادوئ | او زه خپله معامله

اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝ فَوَقٰىهُ اللّٰهُ

کارخپل | الله ته | بیشکه الله|نظر ساتونکې دی اپه بندګانوخپلو باندې|پس بچ کړوهغه لره الله

الله ﷻ ته سپارم | بیشکه الله ﷻ خپل بندګان وینی کوری | .....نو الله ﷻ هغه(مومن)

سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ

دخرابو تدبیرونونه | هغه | چی کړی ووٗ هغوئ | او چاپیره شوه | دال فرعون نه |

ددوئ دمکرونو فریبونو نه بچ اوساتلو | .....اوپه فرعونیانو باندې خراب عذاب

سُوْٓءُ الْعَذَابِ ۝ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا

سختی دعذاب یعنی سخت عذاب | وور دی | چی وړاند کړې کیږی به | هغې ته | صبا

راغلو | .....هغه صبا او مابنام دوزخ ته وړاندې کولې شی |

Scanned with Ca

وَّعَشِيًّا ۚ	وَيَوْمَ تَقُوْمُ	السَّاعَةُ ۫	اَدْخِلُوْٓا	اٰلَ فِرْعَوْنَ
او بیگاه | او په کومه ورځ | چې قائم شی قیامت | (حکم به اوشی) چې ننباسی |				ال دفرعون

او په کومه ورځ چې قیامت قائم شی | (نوحکم به اوشی چې) دفرعون ملګری

اَشَدَّ الْعَذَابِ ۝

سخت عذاب ته |

سخت عذاب ته داخل کړئ |

قوله تعالی:: وَقَالَ الَّذِیْٓ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِیْلَ الرَّشَادِ ۝

د ناپیژندګلو مؤمن دویم نصیحت:- د فرعون د قوم مؤمن سړي د کوم ذکر چه اول تیرشوي دي د خپل قوم سرکشه ځان ته خوښو کبرژنونته نصیحت کولوسره وائی تاسو زما اومنئی زما په لار روان شئی تاسو به په نیغه لار واچوم. دي په خپله وینا کښې لکه دفرعون دروغژن نه وو.هغه خو خپل قوم ته دهوکه ورکوله اوده خود هغوی حقیقی ښیګړه کوله.بیاهغوی ددنیانه بې رغبت کولواودآخرت طرف ته متوجه کولودپاره وائی دنیادیوختمیدونکي سوري په شان اوفناکیدونکي یوه فائده ده.نه ختمیدونکي اود همیشه والی ځای خودي نه پس راتلونکي آخرت دي د کوم ځای راحت اوزحمت چه د همیشه د پاره او غیرفانی دي. کوم ځای چه د بدو بدله هم د هغې برابره ورکولي شی اود نیکو بدله بې حسابه ورکولي شی د نیکوکونکي که سړي وی که ښځه اوشرط دا دي چه ایماندار وی هغه ته به د دغه نیکئی ثواب دومره ورکولي شی چه بې حده اوبې حسابه به وی.والله اعلم.

قوله تعالی:: وَیٰقَوْمِ مَا لِیْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ

مشرکانوته د توحید دعوت:- د فرعون د قوم مؤمن سړی خپل وعظ جاری ساتلوسره اووئیل چه داځه خبره ده چه زه تاسو دتوحیدطرف ته یعنی د یوالله وحده لاشریك له د عبادت طرف ته راغواړم اوزه تاسوته دالله ﷻدرسول دتصدیق دعوت درکوم تاسو مادکفر اوشرك طرف ته راغواړئی.تاسووائي چه زه جاهل جوړشم اوبغیرد دلیل نه د الله ﷻ اودهغه د رسول خلاف اوکړم. غوراوکړئی چه ستاسو اوزما په دعوت کښې څومره فرق دي. زه تاسو د هغه الله ﷻ طرف ته بوځم چه د ډیر عزت او لوئي خاوندد‌ي. سره د دي هغه د هرهغه سړی توبه قبلوی چه د هغه طرف ته تیت شی اواستغفاراوکړی ﴿لاجرم﴾ معنی دحق اوصداقت ده یعنی دا یقین حق اوربښتیادي د کوم طرف ته چه تاسو مارابلئی یعنی د بتانو او بغیر د الله ﷻ نه د نورو عبادت ته هغه دی چه هغوی ته د دین او دنیاهیڅ اختیارنشته. د کومو چه په نفع اونقصان باندي هیڅ طاقت نشته چه د خپل آواز کونکی آواز نه شی اوریدي نه ئی قبلولي شی نه دلته اونه هلته. لکه چه د الله ﷻ ارشاد دي ﴿ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ یَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا یَسْتَجِیْبُ لَهٗٓ اِلٰى یَوْمِ الْقِیٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآىِٕهِمْ غٰفِلُوْنَ ۝ ﴾[1] یعنی ددي نه لوئ څوك ګمراه نشته چه دالله ﷻ نه بغیرنوروته چغې وهی اودهغه چغې ترقیامته پوري نه شی اوریدي. چاته چه دسرنه پته هم نه وی چه څوك مونږ ته چغې وهی اود قیامت په ورځ به دخپل چغې وهونکی دښمنان جوړیږی اود هغوی د عبادت نه به بالکل انکارکوی. سره د دي که ته هغوی ته چغې وهه هغوی نه اوری اوفرض کړه که واوری هم نو قبلولي نه شی. د آل فرعون مؤمن سړي وائی چه مونږ تول به واپس الله ﷻ له خو هلته به هریوته د خپل عمل بدله ملاویږی. هلته د حدنه تیریدونکی الله ﷻ سره نور شریکان پیداکونکی همیشه په دوزخ کښې داخلیږی. تاسو په دي وخت کښې زما د خبرو قدر مه کوئی خو هم اوس اوس به تاسو ته معلومه شی اوزما د خبرو

[1] ۴۶/الاحقاف:۵.

Scanned with Ca

صداقت اوحقیقت به په تاسو واضحه شی. هغه وخت به پښیمانتیا ارمان او افسوس کوئی خوهغه به صرف بې فائدې وی. زه خو خپل کارد الله ﷻ په حواله کوم زما توکل هم په هغه دې. زه په خپل هر کار کښې هم د هغه نه امدادغواړم. زماتاسو سره هیڅ واسطه نشته زه تاسو نه جدایم اوستاسو د کارونونه نفرت کوم زما اوستاسو هیڅ تعلق نشته. الله ﷻ د خپلو بندیګانو په ټولوحالات باندې خبر او پوهه دې.دهدایت چه څوك مستحق دې هغه ته لارخودنه کوی اود ضلالت اوګمراهئی مستحق د دغه لار خودنې نه محروم پاتې کیږی. د هغه هریوکار د حکمت دې د هغه هریوتدبیرد ښیګړې دې. دامؤمن الله ﷻ دفرعونیانود مکر اودهوکې نه بچ کړو اوپه دنیاکښې هم په حفاظت سره پاتې شو یعنی موسی علیه السلام سره هغه خلاصې بیاموندلو اودآخرت دعذابونونه هم محفوظ پاتې شو.باقی ټول فرعونیان په سخت خراب عذاب کښې راګیرکړې شو. ټول په دریاب کښې ډوب کړې شو اوبیاد هغه ځائ نه دوزخ ته اورسولې شو.

د برزخ اوقبرعذاب:- هرسحر اومابنام د هغوی روحونه د دوزخ مخې ته راوستې شی د قیامته پورې به داعذاب هغوی ته ورکولې شی اود قیامت په ورځ به دهغوی بدونونه دروح سره په دوزخ کښې غورزولې شی اوپه هغه ورځ به هغوی ته وئیلې شی چه اې آل فرعون سخت دردناك او ډیر زیات تکلیف ورکونکی عذابونو له ځئ.داآیت د اهل سنت دهغه مذهب چه عالم برزخ کښې یعنی قبر کښې عذاب کیږی ډیرلوئ دلیل دې. اودلته داخبره یادساتل پکاردی چه په بعضې احادیثوکښې څه دا مضمونونه هم نقل شوی دی چه دهغې نه معلومیږی چه دقبر عذاب رسول الله ﷺ ته د مدینې د هجرت نه پس معلوم شوې دې اودا آیت په مکه معظمه کښې نازل شوې دې نود دې جواب دا دې چه د آیت نه صرف دومره معلومیږی چه دمشرکانو روحونه به سحر او مابنام دوزخ ته مخې ته پیش کولې شی باقی پاتې شوه داخبره چه دا عذاب به هروخت جاری اوباقی وی که نه؟ او داهم چه داعذاب به صرف روح ته ورکولې شی که بدن ته هم؟ د دې علم الله ﷻ رسول الله ﷺ ته د مدینې تشریف راوړلو سره ورکړې شو اوحضور ﷺ دا بیان اوفرمائیلو. نود حدیث اوقرآن په ملاوولوسره مسئله داشوه چه عذاب اوثواب د قبر روح اوبدن دواړوته کیږی اوهم دغه حق دی. اوس هغه احادیث اوګورئی. مسند احمد کښې دی چه یوه یهودنۍ ښځه د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها خدمت کولو. حضرت عائشه رضی الله عنها چه به کله هم هغې سره څه ښه سلوك کولو نوهغې به دعاکوله چه الله ﷻ دې تاد قبر دعذاب نه بچ کړی. یوه ورځ حضرت عائشه رضی الله عنها درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړویارسول الله ﷺ دقیامت نه وړاندې په قبرکښې عذاب کیږی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه تاته دا چا اوونیل؟ حضرت عائشه رضی الله عنها دهغه یهودنۍ ښځې واقعه بیان کړه نوحضور ﷺ اوفرمائیل یهودیان دروغژن دی اوهغوی خوپه الله ﷻ باندې د دې نه زیات دروغ تړی. د قیامت نه وړاندې هیڅ عذاب نشته. لږې ورځې تیرې نه وی چه رسول الله ﷺ یوځل دماسپښین په وخت کښې څادر اچولې تشریف راوړو سترګې مبارکې ټی سرې وې په اوچت آواز ټی فرمائیل قبر په شان د تورې شپې دتیارو د ټکړو دې.خلقو که تاسو ته هغه معلوم شی کوم چه زه پیژنم نوډیر زیات به مو ژړل اوډیرکم به موخندل. خلقو د قبردعذاب نه دالله ﷻ پناه غواړئی یقین اومنئی چه د قبر عذاب حق دې.

([1]) یوبل روایت کښې دی یوې یهودنۍ ښځې دعائشه رضی الله عنها نه څه اوغوښتل دې ورکړه او هغې ورته هغه دعااوکړه د دې په آخره کښې دی چه د دې نه یوځو ورځې پس حضور ﷺ اوفرمائیل چه ماته وحی اوکړې شوه چه ستاسو ازمینښت په قبرونوکښې کیږی. ([2])نوپه دې آیاتونواودې حدیث کښې یوتطبیق خو هغه دې کوم چه پورته بیان شوې دې اودویم تطبیق داهم کیدې شی چه آیت **﴿یعرضون﴾** نه صرف

([1]) احمد:٦/٨١وسنده صحیح.

([2]) احمد:٦/٢٣٨.

Scanned with Ca

دومره ثابت وی چه کافرانوته په عالم برزخ کښې عذاب کیږی خو په دې سره دانه لازمیږی چه مؤمن ته هم دهغه دبعضې ګناهونوپه وجه د هغه په قبر کښې عذاب کولې شی. داصرف په حدیث سره ثابته ده . مسنداحمد کښې دی یوه ورځ رسول الله ﷺ عائشه رضی اللہ عنہا کره تشریف راوړو هغه وخت یوه یهودنړه ښځه مور بی بی سره ناسته وه اوونیلې چه تاته معلومه ده تاسو خلق به په خپلو قبرونوکښې ازمیښت کولې شئ؟ دې اوریدو سره حضور ﷺ اوړچیدلو او وئی فرمائیل هم یهودیان ازمیښت کولې شی بیایوځو ورځې پس حضور ﷺ اوفرمائیل خلقو تاسو ټول به د قبرونوپه امتحان کښې اچولې شئ. دې نه پس به حضور ﷺ دقبر دامتحان نه پناه غوښتله.(۱)داهم کیدې شی چه د آیات نه صرف د روح د عذاب ثبوت کیدلوادې نه بدن پورې د عذاب رسیدلو ثبوت نه وو. روستو د وحی په ذریعه حضور ﷺ ته دا معلومه کړې شوه چه عذاب قبر بدن اوروح ته کیږی.حضور ﷺ بیاددې نه دبچ کیدودعاشروع کړه. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

صحیح بخاری شریف کښې دی چه حضرت عائشه رضی اللہ عنہا سره یوه یهودنړه ښځه وه هغې وئیل د قبرد عذاب نه مونږ د الله ﷻ پناه غواړو. په دې باندې عائشه بی بی رضی اللہ عنہا د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو چه په قبرکښې عذاب کیږی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل اوعذاب قبر حق دې. فرمائی چه دې نه پس ما اوکتل چه حضور ﷺ به دهرمانځه نه پس دقبرد عذاب نه پناه غوښتله(۲)د دې حدیث نه خوثابتیږی چه د حضور ﷺ په دې اوریدوباندې د یهودنړې ښځې تصدیق اوکړو اود پورته احادیثونه معلومیږی چه حضور ﷺ انکاراوفرمائیلونوپه دواړو کښې تطبیق دادې چه دادوه واقعې دی. د اولې واقعې په وخت کښې حضور ﷺ ته د وحی په ذریعه نه وه معلومه شوې نوانکارئی اوفرمائیلو بیا معلومه شوه نوحضور ﷺ اقراراوکړ.والله سبحانه ﷻ اعلم. د قبر د عذاب ذکر په ډیرو احادیثوکښې راغلې دې. حضرت قتاده رحمہ اللہ فرمائی د ټول عمر دپاره هرسحراومابنام د فرعونیانو روحونه د دوزخ مخې ته راوړې شی اوهغوی ته وئیلې شی بدکارانوستاسو اصلی ځائ هم دادې.دې دپاره چه د هغوی په غم دردکښې زیاتوالې وی اود هغوی ذلت او سپکاوې وی. (۳)نو نن هم هغوی په عذاب کښې دی اوهمیشه به وی.

ابن ابی حاتم کښې دی عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائی د شهیدانوروحونه د شین رنګ د مرغوپه قالب کښې دی اوهغوی په جنت کښې چه کوم ځائ غواړی ګرځی راګرځی اود مؤمنانوروحونه د چرچنړو په قالبونو کښې دی هغوی چه کوم ځائ غواړی په جنت ګرځی. اود عرش لاندې په فانوسونوکښې ارام کوی.د آل فرعون روحونه د تورزنګ د مرغوپه قالبونوکښې دی سحر هم دوزخ له خی اومابنام هم هم دا د هغوی پیش کیدل دی.

د معراج والا په اوږده واقعه کښې دی چه زه نی د یوډیر لوئ مخلوق طرف ته بوتلم په کوموکښې چه د هریوخپته دیولوئ کور په شان وه چه هم آل فرعون سره قیدوواوآل فرعون به سحرمابنام اُور له راوستې شو او په کومه ورځ چه قیامت قایمیږی الله ﷻ به فرمائی دا فرعونیان سختوعذابونونه له بوځئ. اودا فرعونیان به د پیخوان والا د اوښانو په شان سرونه ښکته کړې کانړو او ونوکښې به څرن کوی اوبالکل بې عقل اوبې شعوردی. ابن ابی حاتم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چه څوک احسان اوکړی که هغه مسلمان وی که کافر الله ﷻ هغه ته ضرور بدله ورکوی. مونږ تپوس اوکړو یارسول الله ﷺ کافرته څه بدله ملاویږی؟ وئی فرمائیل چه هغه صله رحمی کړې وی یاصدقه نی ورکړې وی یاڅه بل څه ښه کار نی کړې وی نوالله ﷻ د هغې بدله د هغه په مال کښې د هغه په اولاد کښې اود هغه په صحت کښې او

---

۱) صحیح مسلم کتاب المساجد باب استحباب التعوذ من عذاب القبر....:۵۸۴، احمد:۲۳۸/۶.
۲) صحیح بخاری کتاب الدعوات باب التعوذ من عذاب القبر:۶۳۶۶.
۳) الطبری:۳۹۶/۲۱.

Scanned with Ca

هم په داسې څیزونو کښې ورکوی. مونږ بیاتپوس اوکړو په اخرت کښې څه ملاویږی؟ ونی فرمانیل د لوئې درجې نه د کمې درجې عذاب. اوس بیا حضور ﷺ ﴿أَدْخِلُوٓا۟ ءَالَ فِرْعَوْنَ﴾ (۱) اولوستلو. ابن جریر کښې دی چه اوزاعی رحمه الله نه یوسړی تپوس اوکړولږ شان داخو مونږ ته اوښایه چه مونږ گوروچه د ډیرو سپینو مرغو سیلونه سیلونه د سمندر نه راوځی اود هغې په مغربی غاړه کښې د سحر په وخت کښې ځی او دومره په زیات تعداد کښې چه څوك ئی شمیرلې هم نه شی. د مابنام په وخت کښې هم داسې سیلونه سیلونه واپس راځی خودې وخت کښې د هغوی رنګ بالکل توروی. هغوی اوفرمائیل تا دابنه معلوم کړی دی د دې مرغوپه قالبونوکښې د فرعونیانو روحونه دی چه سحر مابنام اُورته پیش کولې شی. بیا د خپلو جالوطرف ته واپس کولې شی د هغوی وزرې سوزیدلې وی اودا توریږی. بیاد شپې هغه واپس راتوکیږی اوتورې تړې رژی. بیا هغه د خپلو جالو طرف ته واپس کیږی. دغه حال د هغوی په دنیاکښې دې اود قیامت په ورځ به الله ﷻ هغوی ته فرمائی دافرعونیان په سخت عذابونوکښې داخل کړئی. وائی چه د دوی شمیرشپږ لاکهه دې کوم چه فرعونی فوځ وو.

مسنداحمدکښې دی حضور ﷺ فرمائی په تاسوکښې چه کله هم څوك مری هرسحر مابنام هغه ځائ د هغوی په وړاندې پیش کولې شی. که هغه جنتی وی نوجنت اوکه دوزخی وی نو دوزخ اوورته وئیلې شی دا ستا اصلی خائ دې چرته چه به الله ﷻ تاد قیامت په ورځ لیګی. داحدیث په صحیح بخاری اوصحیح مسلم کښې دې. (۲)

وَإِذْ	يَتَحَآجُّونَ	فِي النَّارِ	فَيَقُولُ	
او کله چې به | جګړې کوی دا خلق | په وور کښی |			پس اوبه وائی	
|اوځه وخت چی دوئ په دوزخ کښې دیوبل سره جګړې کوی| نو کمزوری				
الضُّعَفَٰٓؤُا۟	لِلَّذِينَ	ٱسْتَكْبَرُوٓا۟	إِنَّا كُنَّا	لَكُمْ تَبَعًا
کمزوری خلق | هغه کسانو ته | چی خان ئې غټ ګڼلې وو | بیشکه وو مونږه | تاسو لره | تابع				
خلق به دمرتبو خاوندانو ته اووائی | چې مونږ خو ستاسو تابعداری کوله | .....نوایا				
فَهَلْ أَنتُم	مُّغْنُونَ	عَنَّا	نَصِيبًا	مِّنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾	قَالَ الَّذِينَ
پس ایا یئ تاسو | دفع کونکی | زمونږ نه | څه حصه | دوور نه | اوبه وائی هغه کسان				
اوس مونږ نه څه لږ ډیرعذاب کمولې شئ | .....غټان خلق به اووائی چې اوس				
ٱسْتَكْبَرُوٓا۟	إِنَّا كُلٌّ	فِيهَآ	إِنَّ اللَّهَ	قَدْ حَكَمَ
چې خانونه غټ ګڼل هغوئ | بیشکه مونږه ټول | په دې کښې یو | بیشکه الله | فیصله کړی ده				
خو په کښې ټول دسیملې پراته یو | ..... الله ﷻ دخپلو بندګانو په مینځ کښې				
بَيْنَ ٱلْعِبَادِ ﴿٤٨﴾	وَقَالَ الَّذِينَ	فِي النَّارِ	لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ	
په منځ دبندګانو کښې | اواوبه وائی هغه کسان | چې په وور کښې دی | نوکرانو ددوزخ ته				
قطعی فیصله کړې ده |اوځوک چې په دوزخ کښې پراته وی|هغوئ به ددوزخ څوکیداران فرښتوته اووائی				

(۱) البزار:۹٤٥، حاکم:۲/۲٥۳.

(۲) احمد:۲/۱۱۳، صحیح بخاری کتاب الجنائزباب المیت یعرض علیه مقعده بالغدة والعشی:۱۳۷۹، صحیح مسلم:۲۸۸٦

اُدْعُوْا	رَبَّكُمْ	يُخَفِّفْ	عَنَّا	يَوْمًا
چې دعا اوغواړئ	درب خپل نه	چې سپك (يعنې كم) كړې	زمونږ نه	يوه ورځ
چې تاسو خپل رب نه سوال اوكړئ	چې زمونږ نه يوورځ نيمه خو څه عذاب كم كړې			
مِّنَ الْعَذَابِ ﴿٤٩﴾	قَالُوْٓا	اَوَلَمْ تَكُ	تَاْتِيْكُمْ	رُسُلُكُمْ
دهذاب نه	اوبه وائي ورته هغوئ	آيا نه وئ تاسو	چې راتلل به تاسو ته	رسولان ستاسو
فرښتې به به ورته اووائي	چې آيا تاسو ته پيغمبرانو ښكاره نښې نه وې راوړې			
بِالْبَيِّنٰتِ ؕ	قَالُوْا	بَلٰى ؕ	قَالُوْا	فَادْعُوْا ۚ
دواضحه حكمونوسره	اوبه وايي هغوئ	اهوراتلل به	اوبه وائي نوكران ددوزخ	انوبياخوپه خپله دعا اوغواړئ
.....هغوئ به اقرار اوكړي چې هو راوړې ئې وې	(فرښتې) به اووائي چې بياهم تاسو دعا اوكړئ			
وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ	اِلَّا	فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾ ع		
اونه ده دعا د كافرانو	مګر	په ګمراهئ كښې ده (بې فائدې ده)		
(اويادساتئ چې) دكافرانو دعا هميشه بې اثره پاتې كيږي				

قوله تعالى:: وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِي النَّارِ

دوزخ كښې د دوزخيانو جنګ جګړې :- دوزخيان به د دوزخ نور عذابونه برداشت كولوسره د يوبل عذاب هم ښكاروى دكوم بيان چه دلته كولې شى.داعذاب به فرعونيانوته هم وى او نورودوزخيانوته هم يعنى دخپل مينځ بحثونه مباحثې اوجنګ جګړې.واړه به لويوته يعنى تابعدارى كونكى اوحكم احكام منونكى دچاد لوئې اوبزرګئى چه قائل وواود چا خبرې به ئى منلې اود چا په وينا چه عمل كولو هغوى ته به وائى چه په دنيا كښې خو مونږ ستاسو تابعدار وو څه چه تاسو وئيل مونږ په ځائ راوړل د كفر او ګمراهئى خبرې چه كومې تاسو مونږ ته كولې ستاسود بزرګئى علم اوفضل سردارئى اوحكومت په وجه مونږه ټولې منلى اوس دلته خو تاسو زمونږ هم په څه كار راشئى.زمونږ د عذابونو څه حصه په خپل ځان واچوئى.دارئيسان مشران بزرګان او سرداران به جواب وركوى چه مونږ خو هم تاسوسره سوزيږو اولولپه كيږو.مونږ له چه كوم عذاب كيږى ولې داځه كم دې چه مونږ ستاسو عذاب په ځان واچوو؟ د الله ﷻ حكم جارى شوى دې رب ﷻ فيصلې كړى دى هر يوته ئى دهغه د بدعمل مطابق سزا وركړې ده په دې كښې كمې ناممكن دې. لكه چه بل آيت كښې دى د هر يود پاره ښه لوئ اوزيات عذاب دې كه تاسو پوهيږئى.

قوله تعالى:: قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

كله چه دوزخيان پوهه شى چه الله ﷻ د هغوى دعا نه قبلوى بلكه اورى هم نه اوهغوى له رټنه وركوى اوفرمائيلې دى چه هم دلته پراته اوسئى اوماسره خبرې مه كوئى.نوهغوى به ددوزخ داروغه ګانو ته وائى چه دهغه ځائ څوكيداران دى لكه څنګه چه په دنيا كښې جيل خانوكښې ساتندونكى داروغه اوسپاهيان وى.هغوى ته به وائى لږ شان تاسو الله ﷻ ته دعا اوكړئى چه يوه ورځ خو زمونږ عذابونه لږ شان سپك كړى. هغوى به دوى ته وائى چه ولې په دنياكښې رسولانوتاسو ته دالله ﷻ احكام نه وو رسولى؟دوى به وائى چه اورسيدلې وو نوفرښتې به بيا وائى چه ښه ده پخپله الله ﷻ ته فرياد واوروئى. مونږ خود هغه په دربار كښې ستاسود پاره هيڅ هم نه شو عرض كولې. بلكه اوس خو مونږ ستاسو د

Scanned with Ca

چغو صورو هم خیال نه شوساتلي اومونږ پخپله تاسو نه ویزاره اوستاسو دښمنان یو. واورنی مونږ تاسو ته وایوکه تاسو پخپله دعاکوئی که نورځوك تاسو له دعاکوی ناممکن دی چه ستاسو په عذابونو کښې کمې وی. د کافرانودعا نامنظوره او مردود ده.

إِنَّا لَنَنصُرُ
)بیشکه خامخا مونږه امداد کوؤ
|.....مونږ دخپلو
رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ
درسولانو خپلو	او دهغه کسانو	چی ایمان ئې راوړې دې	په ژوند ددنیا	او په هغه ورځ
پیغمبرانو اود ایمانداررو کسانو مدد کوؤ	..... په دنیا کښې هم او په هغه ورځ
يَقُومُ الْأَشْهَادُ ۝ يَوْمَ لَا يَنفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ
چی ودریږی به ګواهان	هغه ورځ	چی فائیده به نۀ ورکوی	ظالمانوته	عذرونه دهغوئ
چې خلق به ګواهان راپاڅی	په کومه ورځ چې ظالمانوته به عذر معذرت هیڅ فائده نه ورکوی
وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ ۝ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى
او دهغوئ دپاره لعنت دې	او دهغوئ دپاره	ډیر بدکور دې	او ورکړې ووؤ مونږ	موسی ته
اوپه لعنت به ګرفتار وی	او هغوئ دپاره به (ددوزخ) ډیرخراب کور وی	اوبیشکه مونږ موسی ﷺ
الْهُدَى وَأَوْرَثْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ الْكِتَابَ ۝ هُدًى
هدایت	او وارثان کړل مونږه	بنی اسرائیل	دکتاب	چی هغه هدایت ووؤ
ته (کتاب د) هدایت ورکړو	او بنی اسرائیل مو د دې کتاب وارثان جوړ کړل	چې عقل مندو
وَذِكْرَى لِأُولِي الْأَلْبَابِ ۝ فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ
او نصیحت ووؤ	دپاره دخاوندانو دعقلونو	پس صبر کوه	بیشکه وعده دالله	حقه ده
دپاره هدایت او نصیحت وو	نوته صبر کوه	بیشکه دالله ﷻ وعده رښتینې ده	او دخپلې
وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ
او بښنه اوغواړه	دپاره دګناهونو خپلو	او تسبیح وایه	دثنا درب خپل سره	په مابنام
کوتاهئ (دالله ﷻ) نه معافی غواړه	او صبا مابنام دخپل رب پاکی بیانوه	اودهغه
وَالْإِبْكَارِ ۝ إِنَّ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ
او په سحر کښی	هغه کسان	چې جګړې کوی	په ایتونو د الله کښې	بغیر د دلیل نه
تعریفونه کوه	څوک چې بغیر د څه سند نه د الله ﷻ د ایتونو په حق کښې جګړې کوی	کوم چې
أَتَاهُمْ إِنْ فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم
چې راغلې وی هغوئ ته	نۀ ده په سینو د هغوئ کښې	مګر لوئی ده	چې نۀ دی هغوئ
دوئ ته (د الله ﷻ د طرفنه) رارسیدلی وی	د هغوئ په زړونو کښې د تکبر نه سوا بل څه نشته

Scanned with Ca

بِمَا كَذَّبُونِ ۚ	فَاسْتَعِذْ	بِاللَّهِ ۖ	إِنَّهُ هُوَ	السَّمِيعُ
رسیدونکي هغي ته ا	پس پناه غواړه	په الله سره	بیشکه هغهٔ	هم هغهٔ اوریدونکي دي
.....	اخو هغوئ دغي لوئي ته (په رښتیا) هیڅري رسیدلي نهٔ شی انوتهٔ دالله پناه غواړه هغهٔ هرڅه آوری			
الْبَصِيرُ ۝				
لیدونکي دي ا				
هرڅه وینی گوری ا				

قوله تعالی:: إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا

درسولانو امدادکونکي هم الله ﷻ دي او دیوي شبهي جواب :-په آیت کښي د رسولانود امداد د الله ﷻ وعده ده.بیامونږ گورو چه بعضي رسولان دهغوی قومونو قتل کړی دی لکه یحیی ﷺ زکریا ﷺ او ح شعیب ﷺ اوبعضوانبیاء کرامو خپل وطن هم پریخودو لکه حضرت حضرت ابراهیم ﷺ او عیسی ﷺ چه هغه ته الله ﷻ د آسمان طرف ته هجرت اوکړو. بیاولي څوك نه شی وئیلي چه دا وعده ولي پوره نه شوه؟ ددي دوه جوابونه دی یوخودا چه لکه عام خبردي خومراددبعضو نه دي اوداعموماً په لغت کښي موندلي شی چه مطلق ذکر وی او مراد تري خاص وی. دویم داچه د امداد کولو نه مراد بدله اخستل وی. نوپوښتنه هم داسي نه دي تیرشوي چاته چه تکلیف رسونکونه قدرت زبردسته بدله نه وی اخستي دیحیی ﷺ زکریا ﷺ اوشعیب ﷺ په قاتلانو باندي الله ﷻ دښمنان اخته کړل اوهغوی ئی تباه برباد کړل. دهغوی د وینووڅي ئی اوبهیولي اوهغوی ئی ډیر په ذلت سره مرګ ته حواله کړل.دنمرود مشهوره واقعه دنیاته معلومه ده چه قدرت هغه په څنګه نیولو سره راګیرکړو. عیسی ﷺ ته چه کومو یهودیانو په سولئی کولو کوشش کړي وو په هغوی باندي الله ﷻ رومیان غالب کړل اود هغوی د لاسه د هغوی سخت ذلت او سپکاوي اوشو اواوس چه کله قیامت سره نیږدي هغوی راکوز شی نو بیا به دجال سره هغه یهودیان کوم چه د هغه لښکریان وی قتل کوی. او امام عادل اوحاکم به منصف جوړیدوسره تشریف راوړی صلیب به مات کړی خنزیر به قتل کړی اوجزیه به باطل کړی د اسلام نه بغیربه هیڅ نه قبلوی.هم دادي د الله ﷻ عظیم الشان امداد اوهم دا د قدرت دستور دي کوم چه د اول نه دي اوتراوسه پوري جاري دي چه هغه د خپلو مؤمنانوبندیګانودنیاوی امداد هم کوی. اود هغوی د دښمنانونه پخپله بدله اوانتقام اخلی اود هغوی سترګي په یخوی. په صحیح بخاری شریف کښي دحضرت ابو هریره ﷺ نه روایت دي رسول الله ﷺ فرمانی چه الله ﷻ فرمائی څوك چه زما دوستانو سره جنګ کوی هغه زه د جنګ د پاره اوغوښتم.(۱)په دویم حدیث کښي دی چه زه د خپلو دوستانود طرف نه بدله ضرور اخلم لکه چه زمري بدله اخلی. (۲)هم په دي وجه هغه مالك الملك د قوم نوح نه د عادیانو ثمودیانو نه د اصحاب الرس نه، قوم لوط نه، اهل مدین نه اود دوی په شان د هغه ټولوخلقو نه کومو چه دالله ﷻ رسولان دروغ ګنړلي وو اود حق خلاف ئی کړي ووبدله واخستله. یویوئی په راغونډولوسره تباه اوبربادکړل اوپه هغوی کښي چه څومره مؤمنان وو هغه ټول ئی بچ کړل. امام سدی رحمه الله فرمائی په کوم قوم کښي چه دالله ﷻ رسول راغلو یادالله ﷻ ایماندار بندیګانو هغوی ته دالله تعالی پیغام رسولو دپاره اودریدل اوهغه قوم دهغه نبیانواویادهغه مؤمنانو بې عزتی اوکړه اوهغوی ئی وهلي ټکولي یا قتل کړی خامخا هم په هغه زمانه کښي دالله تعالی عذاب په هغه قوم باندي رانازل شوي دي. د انبیاؤ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب التواضع:۲ ۶۵۰۲.
(۲) شرح السنة:۱۲۴۲.

Scanned with Ca

کرامود قتل بدله اخستونکی راپاسیدل اود اوبو په شان ئی دهغوی په وینه تګې زمکه خړوب کړه. نو مؤمنان اوانبیاء کرام دلته قتل کړې شو خود هغوی وینې رنګ راوړو اود هغوی د دښمنان ئی هم لکه د بوسووالوزول. ناممکن دی چه د داسې خاص بندیګانو امداد نه وی شوې اود هغوی د دښمنانونه بدله نه وی اخستې شوې.

دحضرت مصطفی ﷺ دعوت په ټوله دنیاکښې خورشو:-اشرف الانبیاء حبیب الکبریاحضرت مصطفی ﷺدژوند حالات ددنیااود دنیاد خلقو په وړاندې دی چه الله تعالی حضور ﷺ ته اودهغوی صحابه کرامو رضی الله عنهم ته غلبه ورکړه اود دښمنانوټول کوششونه ئی بې نتیجې کړل. په هغه ټولوباندې ئی حضور ﷺ ته بنکاره غلبه ورکړه. دهغوی کلمه ئی اوچته کړه.دهغوی ﷺ دین ددنیاټول دینونه راګیرکړل.دقوم د زبردست مخالفت په وخت کښې ئی خپل نبی ﷺ مدینې ته اورسولو اودمدینې والا ئی ربښتونې ځانونه قربانی کونکې جوړکړل اود مشرکانو ټول زور اوطاقت ئی په جنګ بدرکښې ختم کړو. د هغوی د کفر ټولې وزنی ستنې ئی په دې جنګ کښې د بیخ نه اوویستلې. دمشرکانوسرداران خو یاتکړې تکړې کړې شواویاد مسلمانانوپه لاس کښې قیدیان شو اود نامرادئی سره ستونه بنکته کړی بنکاریدل. په قیداوبندکښې ترلې شوی په ذلت اوسپکاوی سره د مدینې په کوڅوکښې لاس په لاس اوګریوان په ګریوان شو.دالله تعالی حکمت بیا په هغوی باندې احسان اوکړو اویوځل ئی بیا موقعه ورکړه اوفدیه اخستوسره ئی آزادکړل خوچه کله بیاهم د رسول الله ﷺ د مخالفت نه منع نه شو اوپه خپلو کړو باندې کلك ولاړوو نوهغه وخت هم راغلو د کوم ځائ نه چه د الله تعالی نبی ﷺ پټ پټ د شپې په تیاره کښې پیدل هجرت کړې وو هلته د فاتح په حیثیت سره داخل شو اوپه ستونوباندې لاسونه ترلی د رسول الله ﷺ دښمنان راوستلې شو اود حرم د بنارحرمت اوعظمت رسول الله په وجه پوره کړې شو اوټول کفر او شرك اود هرقسم بې ادبونه بیت الله پاك اوصفاکړې شو. آخر یمن هم فتح شو اوټول جزیره عرب د رسول الله ﷺ په قبضه کښې راغلو اودلې دلې خلق دالله تعالی په دین کښې داخل شو. بیا رب العالمین خپل رسول رحمت للعالمین خپل ځان له راوبللو اودهغه ځاې په کرامت اوعظمت سره خپله میلمستیاکښې اوساتلو او پیرځونې ئی پرې اوکړې. بیا د حضور ﷺ نه پس د هغوی نیکان ملګری صحابه کرام رضی الله عنهم دهغوی په ځائ ګینول چه محمدی ﷺ جهنډا په لاس اودریدل اود رب توحیدطرف ته ئی د الله تعالی مخلوق راوغوښتلو اوکوم بندیز چه په لارکښې راغلوهغه ئی لرې کړو. د چمن کوم ازغې چه بنکاره شو هغه ئی پرې کړو. کلی کلی بناریې په بناریې اوملك په ملك ئی د اسلام دعوت اورسولو. څوك چه منع کونکی وو هغوی ته د منع مزه ورکړه په دې ضمن کښې د اسلام حکومت مشرق اومغرب کښې خورشو. په زمکه اود زمکې د خلقو په بدنونوباندې صحابه کرامو رضی الله عنهم فتح حاصله نه کړه بلکه د هغوی په زړونوباندې ئی هم فتح حاصله کړه. په زړونوکښې اسلامی طریقې راوستلې اوټول ئی د کلمه ئی توحیدد لاندې راجمع کړل.محمدی ﷺ دین د زمکې حصه حصه او ګوټ ګوټ په خپله قبضه کښې واخستلو. د دین دعوت کنړو غوړونوته هم اورسیدلو. صراط محمدی ﷺ رندو هم اولیدله. الله تعالی دې دې پاکې دلې ته د خپلو اولوالعزمیانو بهترینه بدله ورکړی .آمین الحمدلله ترننه پورې د الله تعالی دین غالب اوکامیاب دی. ترننه پورې په مسلمانانو کښې حکومت او سلطنت موجود دې. ترننه پورې دهغوی په لاس کښې د الله تعالی اود هغه د رسول الله ﷺ کتاب او کلام موجود دې اوترننه پورې د هغوی په سرونود خپل رب لاس دې. د قیامته پورې به دادین کامیاب او آباد وی څوك چه دې سره ورانیږی د خپلې خلې هغه به واپس خوری اوبیابه چرې هم مخ اونه بنائی هم دا مطلب دې د دې مبارك آیت.

قوله تعالی:: وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ۝

قیامت کښې به هم نصرت وی: د قیامت په ورځ به هم د دیندارانو امداد اونصرت په ډیره لویه او په اوچته پیمانه سره کولې شی. د ګواهانونه مراد فرښتې دی. بل آیت کښې (یومَ) بدل دې د ږومبی آیت په دې لفظ سره. په بعضې قراءتونوکښې (یومُ) دې نودا لکه د اولنی (یومَ) تفسیردې. د ظالمانونه مراد مشرکان دی. د هغوی عذر او فدیه به د قیامت په ورځ نه شی قبلولې. هغوی به د رب د رحمت نه په هغه ورځ لرې دیکه کولې شی. د هغوی د پاره به خراب کور یعنی دوزخ وی. دهغوی عاقبت به خراب وی. موسیٰ ﷺ ته مونږ هدایت او نور وراوښلو دبنی اسرائیلو انجام مونږ ښه کړو. د فرعون د مال اوملك مونږ هغوی وارثان جوړکړل ځکه چه هغوی دخپل الله تعالی په اطاعت کښې اود نبی په تابعدارئی کښې په ټینګتیاسره سختئی برداشت کولې. دکوم کتاب چه دوی وارثان شو هغه دعقل مندو دپاره د سر نه واخله ترپښو پورې هدایت اوعبرت وو. اې نبی ﷺ ته صبر کوه د الله تعالی وعده رښتونې ده هم ستا نوم به اوچتیږی.د انجام په لحاظ سره به ته اوستا ملګری غالبیږی. رب د خپلې وعدې خلاف هیڅ کله هم نه کوی. بغیرد څه شك اوشبه به د الله تعالی دین اوچتیږی. ته د خپل رب استغفارکوه.حضور ﷺ ته حکم ورکولوسره په اصل کښې دحضور ﷺ امت پدې استغفار باندې تیارولې شی. د ورځې په آخری اود شپې د شروع وخت کښې اود ورځې د شروع اود شپې په آخری وخت کښې په خصوصیت سره د خپل رب پاکی اوتعریف بیانوه. کوم خلق چه په باطل باندې کلك وی اوحق اخوا کوی دلائل بغیرحجت سره روستوکوی د هغوی په زړونوکښې بغیرد کبر نه بل هیڅ نه شته. په هغوی کښې دحق د تابعدارئی نه سرکشی ده. دوی د رب د خبرو عزت نه پیژنی اوچه کوم تکبر کوم ځان خودل اوکوم خپل اوچتوالې دوی غواړی هغه به دوی ته هیڅ کله هم حاصلیدونکې نه دې. دهغوی مقصود باطل دې د هغوی مطلوب لاحاصل دې د الله تعالی پناه غواړه د هغوی په شان حال دې د ښه سړی نه وی اود دې کبرژنوخلقو شیطانونه هم د الله تعالی پناه غواړه. داآیت د یهودیانوباره کښې نازل شوې دې. دوی به وئیل چه دجال به هم د دوی نه وی اود هغه په زمانه کښې به دوی د وخت بادشاهان وی. الله تعالی خپل نبی ﷺ ته اوفرمائیل چه د دجال د فتنه نه د الله تعالی پناه غواړه هغه اوریدونکې اولیدونکې دې خوآیت د یهودیانو باره کښې نازلیدل خودل اود دجال بادشاهی اود هغه د فتنه نه د پناه حکم دا ټول ځیزونه د تکلف نه ډك دی. اومنلې شوچه دا تفسیر د ابن ابی حاتم دې ولې داقول د ندرت نه خالی نه دې ټیك هم دا دی چه کوم عام دی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	اَكْبَرُ	مِنْ خَلْقِ النَّاسِ	
خامخا پیدا کول دآسمانونو	او دزمکې	ډیر لوی کار دې	دپیدا کولو دخلقو نه	
دانبکاره خبره ده چې دآسمانونو اودزمکې پیداکول د بنیادمو پیداکولو نه زیات غټ کار				
وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ ۝	وَمَا يَسْتَوِي	الْاَعْمٰى
ولیکن	اکثر دخلقو نه	نۀ پوهیږی	اونۀ برابریږی	روند
دې	.....خو زیات خلق پدې نه پوهیږی			.....او روند او بینا
وَالْبَصِيْرُ ۙ	وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	وَلَا الْمُسِيْٓءُ ؕ	
او بینا	او هغه کسان چې ایمان ئې راوړو	او عملونه ئې اوکړل نیك	اونۀ بدکار (برابریږی)	
یو برابر کیدې نشی	اونه صاحب ایمان نیکو کار اوبدکار(برابرکیدیشی)			

قَلِيْلًا	مَّا	تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾	اِنَّ السَّاعَةَ	لَاٰتِيَةٌ
ډیر لږ دي	هغه	چې کوم نصیحت قبلوئ تاسو	بیشکه وقت دقیامت	خامخا راتلونکي دي
خوتاسو خلق ډیر کم نصیحت قبلوئ	.....	قیامت خو خامخا راتلونکي دي		
لَّا رَيْبَ	فِيْهَا	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ النَّاسِ	لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۹﴾
نشته شك	په هغې کښې	ولیکن	زیات خلق	نۀ راوړي ایمان
په دې کښې هیڅ شک نشته	خو زیات خلق	داخبره نه منی		
وَقَالَ رَبُّكُمُ	ادْعُوْنِيْٓ	اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ	اِنَّ الَّذِيْنَ	
اووائی رب ستاسو	اوغواړئ دعا زمانه	زۀ به قبلوم دعا ستاسو	بیشکه هغه کسان	
او ستاسورب فرمائیلی دی	چې زمانه دعاغواړئ	زه به ستاسو دعاقبلوم	بیشکه کوم خلق چې	
يَسْتَكْبِرُوْنَ	عَنْ عِبَادَتِيْ	سَيَدْخُلُوْنَ	جَهَنَّمَ	دٰخِرِيْنَ ﴿۶۰﴾
چې په غرور کښې مخ اړوی	دعبادت زمانه	ننوځی به هغوئ	دوزخ ته	ذلیله
زما دعبادت (دعا) نه تکبر کوی	هغوئ به دډیر ذلت سره په دوزخ کښې داخلیږی			

قوله تعالی:: لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د قیامت نه انکار آخر ولې ؟:- الله تعالی قادرمطلق فرمانی مخلوق به هغه د قیامت په ورځ د نوی سر نه بیاضرور راژوندی کوی. هغه د آسمان اوزمکې په شان یوزبردست مخلوق پیداکړونود انسان پیداکول یادهغه ورانول اوبیا جوړول هغه ته څه ګران دی؟یوبل آیت کښې دی چه آیاداسې خبره اودومره واضحه حقیقت هم د دروغ ګنړلو قابل دې چه کوم الله تعالی آسمان اوزمکه پیداکړل اود دومره لوئ څیز په پیداکولو سره هغه ستړې نه شو یاعاجزنه شو نوهغه ته د مړو سوزول څه ګران دی. دومره صفا دلیل چه هم د چا په وړاندې د دروغو څیزوی نو د هغه په معلومات یقیناً د ژړا قابل دی. دهغه په جهالت کښې څه شک دی؟چه داسې غټه خبره باندې هم نه پوهیږی. حیرانتیاده چه د لوئ نه لوئ څیز منی اود هغې نه ډیرزیات وړوکی څیز کیدل نه منی. دړوند او بینا فرق خو ښکاره دې هم دغه شان تیك د مسلمان اومجرم فرق دې. اکثر خلق څنګه کم نصیحت قبلوی یقین اوکړئی چه دقیامت راتلل حتمی دی بیا هم ددې تکذیب کول اوپدې باندې یقین نه کول نه ډیرخلق نه منع کیږی.یویمنی شیخ خپل اوریدلې روایت بیانوی چه د قیامت سره نیزدې به په خلقو باندې بلاګانې راځی اود نمر ګرموالې به ډیر سخت شی. والله اعلم.

قوله تعالی:: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ

ددعا اهمت او دعاځوک قبلوی:-چه دالله تعالی سبحانه وتعالی ددې احسان تصدیق اوشی چه هغه مونږ ته ددعا هدایت کوی اودقبلیدو وعده کوی.امام سفیان ثوری رحمه الله به پخپلو دعاګانوکښې فرمانیل اې هغه الله تعالی چه تاته هغه بنده ډیر ښکلې ښکاری چه په کثرت سره د هغه نه دعاکوی اوهغه بنده هغه ته ډیر سخت بدلګی چه هغه نه دعااونه کړی.اې زماربه داصفت خوصرف هم ستا دې.شاعر وائی:

الله یغضب ان ترکت سواله وابنوآدم حین یسال یغضب

یعنی د الله تعالی شان دادې چه کله ته دهغه نه نه غواړې نوخفه کیږی اودانسان داحالت دې که د هغه نه غواړې نو هغه خفه کیږی.کعب احبار رحمه الله فرمائی دې امت ته دړې څیزونه داسې ورکړې شوی دی د دوی نه وړاندې یوامت ته هم نه دی ورکړې شوی بغیرد نبی نه ① ګوره چه هریو نبی ته دالله تعالی د

Scanned with Ca

طرف نه دا فرمان شوې دې چه ته په خپل امت باندې ګواه ئې ولې په ټولوخلقو باندې الله تعالی ته ګواه کړې ئې ② وړاندې نبیانوته به وئیلې شو چه په تاباندې په دین کښې حرج نشته خودې امت ته اوفرمائیلې شو چه ستاسو په دین کښې په تاسو باندې هیڅ نشته. ③ هریونبی ته به وئیلې شو مارابله زه به ستارابلل قبلوم خودې امت ته اووئیلې شو تاسو ما ته آوازکوئی زه به ستاسو آواز قبلوم. (ابن ابی حاتم) ابویعلی کښې دی الله تعالی حضور ﷺ ته اوفرمائیل څلورخصلتونه دی په کوم کښې چه یوزماد پاره دې یوستاد پاره یوستا اوزما په مینځ کښې اویوستااوزماد نورو بندیګانو په مینځ. کوم چه خاص زماد اره دې نوهغه خودادې چه صرف زماعبادت کوه او ما سره څوك شریك کوه مه. اوکوم چه ستا حق په ماباندې دې هغه دا چه ستا د هریود خیر د کار بدله به زه تاله درکوم. اوکوم چه زما اوستا په مینځ کښې دی هغه دا چه ته دعاکوه او زه به ئې قبلوم اوڅلورم خصلت کوم چه زما اوستا د نورو بندیګانو په مینځ کښې دې هغه داچه ته دهغوی دپاره هغه غواړه کوم چه دځان د پاره خوښوی(۱) مسند احمد کښې د حضور ﷺ فرمان دې چه دعا عین عبادت دې بیا حضور ﷺ هم دا آیت تلاوت کړو. داحدیث په سنن کښې هم دې(۲) امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن صحیح وائی ابن حبان اوحاکم رحمه الله هم دا په خپل صحیح کښې راوړلې دې.

مسندکښې دی کوم سړې چه د الله تعالی نه دعانه کوی الله تعالی په هغه باندې غضب ناك وی. (۳)

محمدبن مسلمه انصاری رحمه الله د مرګ نه پس د هغه د توري د تیکی نه یوه پرچه راووتله په کوم کښې چه لیك ووته د خپل رب درحمت موقعې لتیوه. دیرممکن دی چه ته په یوداسې وخت کښې دخیردعا اوکړې چه هغه وخت د رب رحمت په جوش کښې وی اوتاته هغه نیك بختی ملاوشی د کوم نه پس چه کله هم ارمان او افسوس کول نه پریوځی. په آیت کښې د عبادت نه مراد دعااو توحید دې. مسنداحمدکښې دی دقیامت په ورځ به کبرژن خلق لکه دمیږو راجمع کولې شی. د وړوکی نه وړوکې څیز به هم د هغوی دپاسه وی. هغوی د بولس نومې دوزخ جیل خانه کښې اچولې شی اوشغلې وهونکې اُور به د هغوی په سرونوباندې لمبې وهی. هغوی باندې به د دوزخیانو وینې څه وې متیازې وغیره څکولې شی. (۴)

ابن ابی حاتم کښې دی یوبزرګ فرمائی زه د روم په ملك کښې د کافرانوپه لاس راګیرکړې شوې ووم یوه ورځ ما واوریده چه یوغیبی آواز کونکې د غرد څوکې نه په اوچت آواز باندې وائی: ای الله په ده باندې حیرانتیا ده چه تاپیژنی اودې سره ستانه بغیر د نورو د ذات نه ئې امیدونه ترلی دی. ای الله په ده باندې هم حیرانتیا ده چه ستاد پیژندګلوسره خپل حاجتونه د نوروخواته اوړی. بیالږ شان اودریدو او یوپه زوره آواز ئې اوکړو وئې وئیل چه پوره تعجب دې په هغه چه تاپیژنی اود نورو د رضامندئی د پاره هغه کارونه کوی د کوم نه چه ته خفه شې. دې اوریدوسره ما په اوچت آواز سره تپوس اوکړو چه ته چرته پیرې ئې که انسان؟ جواب راغلو انسان یم. ته د خپلوهغه کارونونه توجه اخوا کړه چه تاله فائده نه درکوی اوپه هغه کارونوکښې مشغول شه کوم چه ستاد فائدې دی.

---

۱) مسندابی یعلی:۲۷۵۷

۲) احمد:۲۷۱/٤، ترمذی کتاب تفسیرالقرآن باب ومن سورة المؤمن:۳۲٤۷وهوصحیح، ابوداؤد:۱٤۷۹، ابن ماجه:۳۸۲۸، ابن حبان:۸۹۰.

۳) احمد:٤٤۳/۲، ترمذی:۳۳۷۳، ابن ماجه:۳۸۲۷

۴) احمد:۱۷۹/۲ومسندالحمیدی ۵۹۷وسنده حسن.

Scanned with Ca

اَللّٰهُ	الَّذِیْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الَّیْلَ	لِتَسْكُنُوْا
فِیْهِ					
الله هغه ذات دي	چې جوړه ني کړه ستاسو دپاره	شپه	چې تاسو ارام اوکړئ	په هغې کښې	
الله تعالی هغه ذات دي	چې ستاسو دپاره ئې شپه جوړه کړه	چې ارام په کښې کوئ			
وَالنَّهَارَ	مُبْصِرًا ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	لَذُوْ فَضْلٍ	عَلَى النَّاسِ	وَلٰكِنَّ
او ورځ	روښانه	بیشکه الله	خاوند دفضل دي	په خلقو باندې	ولیکن
اوورځ ئې درله روښانه جوړه کړه	بیشکه چې الله ﷻ په خلقو ډیرې مهربانئ کړې دی				
اَكْثَرَ النَّاسِ	لَا یَشْكُرُوْنَ ۝	ذٰلِكُمُ اللّٰهُ	رَبُّكُمْ	خَالِقُ	
زیات دخلقو نه	نۀ اوباسی شکر	دغه الله	رب ستاسو دي	پیدا کونکي	
خو زیات خلق شکر نه کوی	.....هم دا الله ﷻ دي چې ستاسو رب دي	ادهر څیز پیدا کونکي دي			
كُلِّ شَیْءٍ ۘ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ ۚ	فَاَنّٰى	تُؤْفَكُوْنَ ۝	
دهر څیز	نشته لائق دعبادت	مګر خاص هم هغه دي	نو کوم طرفته	دوکه کړې کیږئ تاسو	
د هغه نه سوا بل څوک دعبادت لائق نشته دي	نودا تاسو کوم خوا اړولی روان یئ				
كَذٰلِكَ	یُؤْفَكُ	الَّذِیْنَ	كَانُوْا	بِاٰیٰتِ اللّٰهِ	
دارنګې	دوکه کړې شوی دی	هغه کسان	چې ووۀ هغوئ	په ایتونو دالله سره	
دغه شان هغه خلق هم اړولی روان وو	چې دالله ﷻ د ایتونو نه به ئې انکار کولو				
یَجْحَدُوْنَ ۝	اَللّٰهُ الَّذِیْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الْاَرْضَ	قَرَارًا
چې انکار به ئې کولو	الله هغه ذات دي	چې جوړه ئې کړه	ستاسو دپاره	زمکه	خاني دقرار
.....الله ﷻ هغه ذات دي	چې زمکه ئې ستاسو د استوګنې خائې جوړ کړې دي				
وَّالسَّمَآءَ	بِنَآءً	وَّصَوَّرَكُمْ	فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ		
او اسمان	چت	او شکل ئې جوړ کړو ستاسو	پس ډیر ښائیسته ئې جوړ کړو شکل ستاسو		
او اسمان ئې درباندې چت جوړ کړې دي	او ستاسو صورتونه ئې جوړ کړې دی	انو څه ښه صورتونه دی			
وَرَزَقَكُمْ	مِّنَ الطَّیِّبٰتِ ؕ	ذٰلِكُمُ اللّٰهُ	رَبُّكُمْ ۚ		
او رزق ئې درکړو تاسو له	دپاکو څیزونو نه	دغه الله	رب ستاسو دي		
اوښه ښه پاکیزه خوراکونه ئې درته روزی کړې دی	هم دا الله ﷻ ستاسو رب دي				
فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ	رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ۝	هُوَ الْحَیُّ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ	
پس برکت ورکونکي دي الله	چې پالونکي دمخلوقاتو دي	هغه ژوندي دي	انشته لائق دعبادت	مګر هغه دي	
نو الله ﷻ ډیر دبرکتونو ذات دي	چې د ټول مخلوق پالونکي دي	ادي همیشه ژوندي دي	ددۀ نه سوا		
فَادْعُوْهُ	مُخْلِصِیْنَ	لَهُ	الدِّیْنَ ؕ	اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ	
پس اواز کوئ هغه ته	حال دا چې خالص کونکي یئ	هغه لره	ددین	ثنا الله لره ده	
بل څوک معبود نشته دي	انوتاسو په اخلاص سره ددۀ بلنه کوئ	ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی			

Scanned with Ca

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝

چې پالونکې دمخلوقاتو دې ا

چې دټولو مخلوقاتو رب دې ا

قوله تعالى:: اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ

د الله تعالى د بې شميره نعمتونوتذكره:- الله تعالى خپل احسان بيانوى فرمائى هغه شپه د سكون اوآرام ځيزجورکړې دې اوورځ ئى روښانه او پرقيندنه کړه دې د پاره چه هرسړې په کارروزګارکښې سفر کښې د رزق په لټون کښې اسانى وى اود ټولې ورځې تکليف او ستومانتيادشپې په سکون او آرام سره کوزه شى. په مخلوق باندې الله ﷻ ډير لوئ فضل اورحم کونکې دې خواکشر خلق د خپل رب ناشکرى کوى. دا ځيزونه پيداکونکې اودآرام اوراحت سامانونه ورکونکې هم هغه الله واحددې چه دټولو ځيزونو خالق دې دهغه نه بغيرځوك د عبادت لائق نشته اونه دهغه نه بغيربل ځوك د مخلوق پالونکې شته بيا تاسو ولې دهغه نه بغيرد نورو عبادت کوئى؟ ځوك چه پخپله مخلوق دى اوهغوى هيڅ ځيز هم نه دې پيدا کړې بلکه د کوموبتانوچه تاسو عبادت کوئى هغه خوپخپله ستاسو پخپلو لاسونوجورکړى دى.د دوى نه وړاندې مشرکانوهم دغه شان بې دليل اوبې حجته دغيرالله عبادت کولو خپل نفسانى خواهشات نى مخې ته کيخودل اوربانى دلائل ئى دروغ اوکنړل اوجهالت ئى مخې ته کړو اودهوکه شو. الله تعالى زمکه ستاسو د پاره د آرام ځائ جورکړو يعنى ولاړه اود فرش په شان خوره چه په دې باندې تاسو خپل ژوندتيرکړئى لاړشئى راشئى تګ راتګ اوکړئى. غرونه ئى په دې کښې ورخښ کړل ونى درولە چه اوس اونه خوزيدې شى.هغه آسمان چت جورکړودهرقسم نه محفوظ دې هم هغه تاسوپه ښکلې شکلونو کښې پيداکړئى. هريوجورئى ټيك ټاك او ښکلې ښکاريدونکې جورکړو.مناسب قامت، مناسب اندامونه ښکلې بدن اوښکلې مخ ئى درکړو.ښائسته اومزيدار ځيزونه ئى دخوراك ځښاك درکړل. پيدا هغه کړئى آبادهغه کړئى هغه درباندې خوراك ځښاك اوکړو هغه لباس درواغوستلې نوپه صحيح معنى کښې خالق اورازق هم هغه رب العلمين دې.لکه چه په سورت بقره کښې ارشاددې ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ۝﴾(۱)يعنى خلقودخپل هغه رب عبادت کوئى چا چه تاسو او تاسو نه وړاندې خلق پيداکړى دې د پاره چه تاسوبچ شئى. ستاسو د پاره ئى زمکه فرش او آسمان چت جورکړو اودآسمان نه ئى باران نازل کړو اوددې په ذريعه ئى دزمکې نه ميوې راوويستلې تاسو ته رزق درکړونوتاسوسره د دې خبرو د پيژندلو د الله تعالى نورځوك شريکان مه جوړوئى. دلته ئى هم خپل دا صفت بيانولوسره اوفرمانيل چه هم دغه الله تعالى ستاسو رب دې اود ټول جهان رب هم هغه دې. هغه دبرکت مالك دې هغه اوچت پاك لوئ اوبزرګ دې هغه د ازل نه دې اوترابده پورې به وى.هغه ژوندې دې په هغه کله هم مرګ نه راځى هم هغه اول آخر ظاهر اوباطن دې. د هغه يوصفت هم په چاکښې نشته.دهغه نظير اوعديل هيڅ ځوك نشته. تاسو له پکاردى چه د هغه توحيدمنلوسره د هغه نه دعا کوئى اود هغه په عبادت کښې مشغول اوسيږئى. د ټولوتعريفونو مالك هم الله تعالى رب العلمين دې. امام ابن جرير رحمه الله فرمائى چه د اهل علم د يوجماعت نه نقل دى چه لااله الاالله لوستونکى له ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝﴾(۲)هم لو ستل پکاردى. دې دپاره چه په دې آيت باندې عمل اوشى.دابن عباس رضي الله عنه نه هم دا روايت دې(۳) سعيدبن جبير رحمه الله فرمائى کله چه ته﴿فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ۝﴾ (۱)لولې نو لااله

(۱) ۲/البقرة: ۲۱.
(۲) ۱/الفاتحة: ۱.
(۳) حاكم: ۲/۴۳۸

Scanned with Ca

الاالله وایه اودي سره ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ (۲) هم وایه. عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دهرمانخه دسلام نه پس ﴿لااله الا الله وحده لاشریك له له الملك وله الحمد وهوعلی کل شئ قدیر. لاحول ولاقوة الا بالله. لااله الاالله ولانعبد الا ایاه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لااله الاالله مخلصین له الدین ولوکره الکفرون﴾ لوستلو اوفرمانیل به نی رسول الله ﷺ به هم داکلمې د هر مانخه نه پس لوستلې. (مسلم ابوداؤد اونسائی)

قُلْ	اِنِّيْ نُهِيْتُ	اَنْ اَعْبُدَ	
اووایه	چی زهٔ منع کړې شوې یم	چی زهٔ عبادت اوکړم	
(ائې پیغمبره) ته ورته اووایه چې زه خوددې نه منع کړې شوې یم	چې دالله ﷻ نه		
الَّذِيْنَ	تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	لَمَّا	جَآءَنِيَ	الْبَيِّنٰتُ
دهغه هستیانو	چی تاسو ئې رابلئ	بې دالله نه	هر کله چی	راغلل ماته	واضحه دلیلونه
سوا ستاسو دنورومعبودانو عبادت اوکړم	ددې باوجود چې ماته دخپل رب دطرفنه ښکاره ښنې				
مِنْ رَّبِّيْ	وَاُمِرْتُ	اَنْ اُسْلِمَ	لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۶﴾	هُوَ الَّذِيْ	
دطرفه درب زما نه	او حکم شوې دې ماته	چی زهٔ غاړه کیږدم	رب العالمین ته	هغه هغه ذات دې	
رارسیدلی دی	اوماته خو بس دا حکم دې	چې درب العالمین وړاندې سرتیټوم	الله ﷻ هغه ذات دې		
خَلَقَكُمْ	مِّنْ تُرَابٍ	ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ	ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ		
چې پیدا ئې کړئ تاسو	دخاورې نه	بیا دنطفې نه	بیا دوینې دټوټې نه		
چې تاسو ئې دښاورې نه پیدا کړی یئ	بیا ئې دځاځکی اوبو نه	بیا ئې د وینې له ټوټې نه			
ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ	طِفْلًا	ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا	اَشُدَّكُمْ		
بیا هغه راوباسی تاسو	په شکل دبچی	بیا لویوئ تاسو چی اورسیږئ	پوره قوت خپل ته		
بیا ئې ماشوم (دموردخیټې نه) راوویستلئ	بیا تر دې چې دکې ځوانئ ته اورسیدئ				
ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا	شُيُوْخًا ۚ	وَمِنْكُمْ	مَّنْ	يُّتَوَفّٰى	
بیا چی شئ تاسو	بوډاګان	او څینی ستاسو نه	هغه څوک دی	چی وفات کړې شی	
بیاتردې چې بوډاګان شوئ	اوځوک در کښې وړاندې مړ شی	اودپاره ددې چې تاسو ټول			
مِنْ قَبْلُ	وَلِتَبْلُغُوْٓا	اَجَلًا مُّسَمًّى	وَّلَعَلَّكُمْ	تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾	
مخکښې ددې نه	اوچی اورسئ تاسو	نیټې مقررې ته	اودپاره ددې چی تاسو	دعقل نه کار واخلئ	
خپلې مقررې نیټې ته	اورسیږئ	اوچې دپوهې نه کارواخلئ			
هُوَ الَّذِيْ	يُحْيٖ	وَيُمِيْتُ ۚ	فَاِذَا قَضٰٓى		
هغه هغه ذات دې	چی ژوندی کول کوی	او مړه کول کوی	پس هر کله چی فیصله اوکړی هغه		
الله ﷻ هغه ذات دې	چې ژوندی کول او مړه کول کوی	کله چې د یوکار د کولو اراده اوکړی			

(۱) ۴۰/غافر: ۱۴.
(۲) ۱/الفاتحة: ۱.

Scanned with Ca

أَمْرًا	فَإِنَّمَا	يَقُولُ	لَهُ	كُن	فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾
دیو کار	پس بیشکه	چی وائی	هغه کار ته	شه	پس شی هغه
.....	نو هغې ته اووائی	موجود شه	نو هغه موجود شی		

قوله تعالی:: قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ

مشرکانو اعلان د غیر الله نه براءت او په دې باندې دلیل:- الله تعالی فرمائی اې نبی ﷺ دې مشرکانوته اووایه چه الله تعالی دهرچادعبادت نه بغیرد هغه نه خپل مخلوق منع کړې دې د هغه نه بغیربل څوك د عبادت لائق نشته. ددې د ټولونه لوئ دلیل د دې نه روستوراتلونکې آیت دې کوم کښې چه فرمائیلی الله ﷻ وحده لاشریك له تاسو د خاورې نه بیا دنطفې نه بیا دوینې د چکې نه پیداکړی نی.هم هغه د موردخیټې نه دماشوم په شکل کښې راوویستلې.دا ټول حالات هم هغه بدلول. بیا هم هغه د وړوکوالی نه ترځوانئی پورې رارسولې. هم هغه به دې د ځوانئی نه تربوډاوالی پورې رسوی. دا ټول کارونه صرف په یوحکم تقدیر او تدبیرسره کیږی. بیاځومره بده خبره ده چه هغه سره د نورو هم عبادت اوکړې شی. بعضې ددې نه وړاندې وفات کیږی یعنی په کچه پرده کښې پریوځی حمل ساقط شی.بعضې په وړوکوالی کښې بعضې په ځوانئی کښې اوبعضې په ډیر عمر کښې د بوډاوالی نه وړاندې مړه کیږی. قرآن پاك کښې یوبل ځائ کښې ارشاد دې ﴿وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا ۚ وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ ﴾[1] یعنی مونږ ئی دمورپه خیټه کښې راحصاروترکومې چه غواړو.دلته بل ارشاددې چه تاسو خپل مقرروخت ته اورسئی اوتاسو سوچ اوفکراوکړئی.یعنی دخپل ځان د دې حالاتو په بدلون سره تاسو ایمان راوړئی چه د دې دنیا نه پس هم تاسو ته په نوی ژوندکښې یوه ورځ اودریدل دی. هم هغه ژوندې کونکې اومړکونکې دی. د هغه نه بغیرځوك هم په مرګ اوژوندباندې قادرنه دی. دهغه یوحکم یوه فیصله نه څه مقررول اونه اراده ماتونکې څوك شته. څه چه هغه غواړی هم هغه کیږی اوڅه چه هغه نه غواړی ناممکن دی چه هغه اوشی.

أَلَمْ تَرَ	إِلَى الَّذِينَ				
آیا تا اونه کتل	اهغه کسانوته				
آیا ته هغې خلقو ته نه ګورې					
يُجَادِلُونَ	فِي آيَاتِ اللَّهِ ۖ	أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾	الَّذِينَ		
چې جګړې کوی	په آیتونو دالله کښې	دکوم خائې نه دوکه کولې کیږی	هغه کسان		
چې دالله ﷻ دآیتونو په باره کښې جګړې کوی	دوئ کوم طرف ته اړولې شی	هغه څوك چې			
كَذَّبُوا	بِالْكِتَابِ	وَبِمَا	أَرْسَلْنَا	بِهِ	رُسُلَنَا ﴿٧٠﴾
چې دروغ ئې اوګنړو	کتاب	او هغه	چې لیږلی دی مونږه	په هغې سره	رسولان خپل
داکتاب ئې اوکوم (کتابونه او حکمونه) چې مونږ دنورو پیغمبرانو په لاس رالیږلی دی ئې دروغ اوګنړل					

[1]) ۲۲/الحج:۵.

Scanned with Ca

فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۙ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلٰسِلُ ۭ

پس زر به پته اولږي دوئ ته | کله چې به پتئ | په څټونو ددوئ کښې وی | او زنځيرونه |

نو ډير زر به په پوهه شی | چې څټونو کښې ورته تيزندئ اوزنځيرونه واچولې شی

يُسْحَبُوْنَ ۙ فِي الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ۚ

چې راخکلې کيږی به | په ګرمو اوبو کښې | بيا به په وور کښې | ورغورزولې کيږی |

ويشيدلو اوبو ته به راښکلې شی | .....بيا به اور ته ورغورزولی شی

ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ۙ

بيا به اووئيلې شی | دوئ ته | کوم ځائې دی هغه | چې وئ تاسو | چې شريکول به تاسو |

بيا به تری تپوس اوشی | چې (نن) د الله تعالی نه سوا ستاسو شريکان څۀ شول (کوم چې موجوړول)

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا

ماسوا دالله نه | اوبه وائی دوئ | ورک شول زمونږ نه | بلکه نۀ ووُ مونږ | چې بللو به مو |

. | ..... هغوئ به وائی چې ټول رانه ورک شول | بلکه مونږ خوبه ددې نه وړاندې

مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ۭ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ۝ ذٰلِكُمْ

مخکښې ددې نه | څه څيز | درانګې به | ګمراهه کوی الله | کافران | دا انجام ستاسو |

دبل هيچا عبادت نه کولو | دغه شان الله ﷻ کافران په ګمراهئ کښې ساتی | دا د دې

بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ

په سبب دهغې شو | چې وئ تاسو | چې خوشحالی به مو کوله | په زمکه کښې | په ناحقه سره |

خبرې بدله ده | چې تاسو به په دنيا کښې په ناحقه خوشحالئ کولې | اودا دهغې بدله ده

وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ۚ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

او په سبب دهغې | چې وئ تاسو | چې غرور به مو کولو | (اوس) ننوزئ | دروازو | ددوزخ ته |

چې تاسو به ځان ته خوښ وې | ..... اوس د جهنم دروازې ته ورننوځئ |

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝

هميشه به يئ په هغې کښې | پس ډير خراب دی | ځائې | دتکبر کونکو خلقو |

هميشه به په کښې پراته ئې | ددغه متکبرو خلقو د استوګنې ځائې ډير خراب دی |

قوله تعالی:: اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ ۭ

د انبياءکرامو دتکذيب کونکو عبرتناک انجام: الله تعالی فرمائی اې محمد ﷺ تاته په دې خلقو تعجب نه ښکاری کوم چه دالله تعالی خبرې دروغ ګڼړی اودخپل باطل په وجه دحق نه اوړی. ته نه ګورې چه د دوی عقلونه څنګه وهلې شوی دی اونيکی پريږدی اوبدئی پورې څنګه کلک اينښتې دی. بيا دا بد کرداره کافراز ويروی چه هدايت اوښيګړه دروغ ګڼړونکی دکلام الله اوکلام الرسول منکران به خپل انجام هم اووينی. لکه چه اوفرمائيلې شو دتکذيب کونکود پاره ويل دې په ستونوکښې به نی طوقونه

Scanned with Ca

اوزنخیرونه پراته وی اود دوزخ داروغه به ئی په رابنکلورابنکلو ګرځوی کله په حمیم کښې اوکله په جحیم کښې. په ګرمو خوتکیدلو اوبوکښې به رابنکلی کیږی اود دوزخ په اُورکښې به سوزولې کیږی. لکه چه بل ځای ارشاد دې هغه دوزخ کوم چه به ګناهګارانوخلقو دروغ ګنړلو اوس دې دوی په دې کښې اود اُور په شان ګرمو اوبوکښې وهلې وهلې پریشانه ګرځی. په نوروآیاتونوکښې دهغوی د زقوم خوړلو اوګرمې اوبه څکل بیان شوی دی. فرمائی﴿ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ﴾(۱)بیا دهغوی تګ خو هم د دوزخ طرف ته دې.په سورت واقعه کښې د اصحاب شمال ذکر کولو سره فرمائی دګس لاس والا څومره خراب دی اوهغوی په اُورکښې دی اوګرمې اوبه او د تور لوګې په سوری کښې به وی چه نه یخ دې اونه فائده مند. وړاندې فرمائی: ای دهوکه شوی دروغ ویونکو ترخه ونه به خورئی هم په دې سره به خپله خپته ډکوئی بیا به پدې باندې سوزیدلې سوزیدلې ګرمې اوبه څکئی اوداسې لکه چه تنده وهلې اوښ ئی څکی.نن به دانصاف په ورځ دهغوی دغه میلمستیاکیږی.بل ځای ارشاددی ﴿اِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّوْمِ﴾ (۲) یقیناً دګناهګارانوخوراك دزقوم ونه ده چه دویلې شوې تانبې په شان ده چه په خیټوکښې به خوتکیږی لکه د تیزوګرمو اوبو. دا اونیسئی اود دوزخ مینځ ته ئی په ډیکو دیکواورسوئی. بیا د دوی په سرونو باندې د تیزګرمو سرو کړو اوبوعذاب راواړوئی. واخله اوځکه ته ډیر عزت مند اوډیر د تعظیم اوتکریم والا سړی وې. هم دا هغه دی کوم سره چه ستا شك اوشبه وه. مطلب داچه یوطرف ته به ته داتکلیفونه برداشت کوې د کوم بیان چه اوشو اوبل طرف ته به هغوی ذلیل خوارول تورولود پاره د ټوقومسخرو په توګه غصې اورتنې په توګه د سپکاوی اوذلت په توګه هغوی ته خبرې کولې شی لکه چه بیان شوې.

په جهنم کښې توړې وړې ځې او دهغې باران:د ابن ابی حاتم په یوغریب مرفوع حدیث کښې دی چه د یو طرف نه به توره اوړیځ راوچته شی کومه چه به دوزخیان اووینی نودهغوی نه به تپوس اوکړی تاسو څه غواړئی؟ هغوی چه اوریځې اووینی نود دنیاپه انداز باندې به وائی چه دا اووریږی نود دې نه به طوق زنځیرونه اود اور سروتکې راووریږی.(۳)د کوم شغلې چه به هغوی سوزوی اولولپه کوی اوهغه طوق او زنځیرونه به دهغوی په طوق اوزنځیرونوکښې نور هم زیاتوالې اوکړی.بیا به هغوی ته وئیلې شی چه وائې کنه په دنیاکښې چه مود کوم خلقو عبادتونه کول هغه ټول نن کوم ځائی دی؟ هغوی ستاسوامداد ته ولې نه راځی؟هغوی ولې تاسو د بې وسئی اوخراب حالت کښې پریخودئی؟هغوی به جواب ورکړی چه اوهغوی خونن نه ښکاری هغوی خو وو بې فائدې. بیا به دوی ته څه خیال راشی او وائی به نه مونږ خودهغوی عبادت چرې هم نه وو کړې.لکه چه بل آیت کښې دی کله چه دوی څه جوړول کوی اوجوړ تړې نه شی نو صفا انکار به اوکړی اودروغ به اووائی﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ﴾(۴)ای الله زمونږ دې ستاقسم وی مونږمشرکان نه وو. داکافران به داسې په فضولیاتوکښې ورك وی دوی ته به فرښتې وائی دابدله ده دهغې چه په دنیاکښې به بغیرد څه وجه تاویدئی اوګرځیدئی اوتکبرلوئې باندې مو ملا تړلې وه اوس راشئی د دوزخ په دې دروازوکښې ورداخل شئی اوس همیشه هم دلته پراته اوسئی. ستاسو غوندې د مغروره کسانود پاره هم دابدمنزل اوخراب ځای د اوسیدو دې. څومره کبر چه موکولوهم دومره به نن ذلیل اوخوار جوړیږئی چه څومره بره ختئی اوهم دومره به ښکته راپریوځئی. والله اعلم.

---

۱) ۳۷/الصافات:۶۷.
۲) ۴۴/الدخان:۴۳. الخ.
۳) ابن ابی حاتم
۴) ۶/الانعام:۲۳.

Scanned with Ca

فَاصْبِرْ

| پس صبر کوه

| نو (اې نبی ﷺ) ته صبر کوه

إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ

بیشکه وعده دالله | حقه ده | پس که اوښایو مونږ تاته | بعضې هغه عذاب | د کوم نه چې یروو مونږ هغوئ

بیشکه دالله وعده ریښتونې ده | نو مونږ چې دوئ سره د کومې وعده کوو | که دهغې څه لږه

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٤٧﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

یا وفات کړو مونږ تالره | پس مونږ ته به | واپس کړې کیږی هغوئ | او لیږلی دی مونږه |

حصه تاته اوښایو | یا تا (دهغې دښکاره کیدونه وړاندې) وفات کړو | نو (په هرصورت) ټول به مونږ ته واپس کیږی

رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا

ډیر رسولان | مخکښې ستا نه | دهغوئ نه خینې هغه څوك دی | چې حالات ئې بیان کړی دی مونږه

اومونږ ستا نه وړاندې ډیر پیغمبران لیږلی وو | چې دبعضو قصې مونږ تاته بیان کړی دی

عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ

په تاباندې | او خینې دهغوئ نه هغه څوك دی | چې بیان نۀ کړل مونږه حالات دهغوئ | په تاباندې

..... | اود بعضو قصې مونږ تاته نه دی بیان کړې |

وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ ۚ فَإِذَا جَاءَ

اونۀ ووٚ طاقت | یو رسول لره | چې راوړی یوه نښه | مګر | په اجازت دالله | پس هر کله چې | راغلې

اوهر پیغمبر چې یوه نښه خودلې ده | نو بس دالله ﷻ په اذن ئې خودلې ده | نو څه چې دالله ﷻ

أَمْرُ اللّٰهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ

حکم دالله | نو فیصله اوکړې شوه | په حقه | او په نقصان کښې پریوتل | په هغه وخت کښې

حکم راشی | نوسمه فیصله به اوشی | اوهلته به باطل پرست به تاوانیان پاتې شی

الْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾ اللّٰهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَنْعَامَ

| غلط کاره خلق | الله هغه ذات دی | چې جوړ ئې کړل ستاسو دپاره | ګرځیدونکی څناور

..... | الله ﷻ هغه ذات دی چې ستاسو دپاره ئې (قسم قسم) څاروی پیدا کړی دی

لِتَرْكَبُوا مِنْهَا وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ

چې سورلی اوکړئ | په بعضو دهغې نه | او بعضې دهغې نه | خورئ تاسو | او دی ستاسو دپاره

په هغې کښې په بعضو باندې سورلی کوئ | او د بعضو نه خوراکونه کوئ | او ستاسو دپاره

فِيهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوا عَلَيْهَا حَاجَةً فِي صُدُورِكُمْ

په هغې کښې | فائدې ډیرې | اوچې اورسئ تاسو | په هغې باندې | اداسې حاجت ته | چې په سینوس ستاسو کښې وی

په کښې نورې هم ډیرې فائدې شته | اود دې دپاره ئې پیدا کړی دی چې دخپلو زړونو مرادونه پرې ترسره کړئ

وَعَلَيْهَا	وَعَلَى الْفُلْكِ	تُحْمَلُوْنَ ﴿۸۰﴾	وَيُرِيْكُمْ
او په هغوئ باندې | او په کشتئ باندې | تاسو سوارۀ ګرزولې کيږې	او هغه ښانی تاسو ته |		
اوپه دغه ځاروۀ او بيړو باندې تاسو سورلی کوئ | اوهغه (الله تعالی) درته دخپل وحدانيت نور قدرتونه			
اٰيٰتِهٖ ۚ	فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ	تُنْكِرُوْنَ ﴿۸۱﴾	
ښيې خپلې | نو دکومو ښيو دالله نه | به تاسو انکار کوئ |			
هم ښانی | نوتاسو به دالله د وحدانيت دکومو کومو ښيونه انکار کوئ |			

قوله تعالی:: فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

صبراوکړئ فتح به هم ستاسو وی:- الله تعالی خپل رسول ﷺ ته دصبر حکم ورکوی څوک چه ستا نه منی تادروغ ګڼړی ته دهغوی په تکليفونوباندې صبر اوبرداشت کوه په دې ټولو باندې به فتح اونصرت هم تانه ملاويږی. آخر انجام به هم ستا په حق کښې بهتروی. ته اوستا منونکی به په ټوله دنيابانديې غالب راځئی اوآخرت خو صرف هم ستاسودې نويا خوبه مونږ د خپلې وعدې څه څيزونه تاته په دنيا کښې ستاپه ژوند کښې دراوښايو اوهم داسې شوی هم دې. د بدر په ورځ باندې د کفر زورختم شو اوسرئی ورله مات کړو. دقريشو لوئ لوئ سرداران مړه کړې شو. آخر مکه فتح شوه اوهغوی د دنيانه رخصت نه ووترکومې چه ټول جزيره عرب دهغوی دحکم لاندې شوې نه وو. دحضور ﷺ دښمنان د هغوی دسترګو په وړاندې خواراوذليل شوی نه وو اودحضور ﷺ سترګې الله تعالی يخې کړې نه وې. اوکه چرې مونږ تا واخلو هم نودهغوی واپس کيدل خو هم زمونږ طرف ته دی مونږ به هغوی د آخرت په دردناک عذاب کښې راګيرکړو. بيا د نورې تسلئی په توګه فرمائيلې شی تانه وړاندې هم مونږ ډير رسولان ليګلې دی په کومو کښې چه د بعضو حالات مونږ تاته بيان کړل اودبعضو قصې مونږ بيان کړی هم نه دی لکه چه په سورت نساء کښې هم فرمائيلی شوی دی نوچه د کومو قصې ذکردی هغه ګوره چه د هغوی قوم سره څه اوشو. اودبعضو واقعات مونږ بيان کړی هم نه دی هغه ددې په نسبت سره ډير زيات دی. کوم چه مونږ دسورت نساء دتفسيرپه موقعه بيان کړی دی. والله الحمدوالمنة. بيا فرمائی چه ناممکن دی چه يو رسول دخپلې مرضئی معجزې اودعادت نه خلاف خبرې اوښائی مګرالله ﷻ د حکم کيدونه پس څکه چه درسول سره خو هيڅ هم په قبضه کښې نشته. اوچه کله الله ﷻ عذاب راشی بيا تکذيب کونکی او تردید کونکی کافران نه شی بچ کيدې. مؤمنان خلاصې بياموميې اوباطل پرست اوباطل کار تباه کيږی.

قوله تعالی:: جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ

(انعام) يعنی اوښ غوا چيلئی الله تعالی د انسان د پاره قسم قسم د نفع د پاره پيداکړی دی د سورلئی په کارراخی خورلې کيږی. اوښ دسورلئی په کارهم راځی اود خورلوپه کارهم، پئی هم ورکوی بوج هم اوچتوی اود لرې لرې سفرې په آسانئی سره کوی. غواد غوښې خورلوپه کارهم ارځی اوپئی هم ورکوی يوه هم کوی. د چيلئی پئی هم څکئی او غوښه ئی هم خورئی. بيا د دې ويښته په شلو کارونوکښې په کار راخی لکه چه په سورت انعام او سورت نحل کښې بيان تيرشوې دی. دلته هم دا منافع د انعام په توګه شميرلې شوی دی. په دنيا کښې اود دې په ګوټ ګوټ کښې اود کائناتوپه يوه يوه ذره کښې او پخپله ستاسوپه خانونوکښې دالله ﷻ نښې موجود دی. ربښتياخودادی چه دهغه په بې شميره نښو کښې ديوې نه هم په صحيح معنوکښې انکارنه شی کيدلې اوبلکه دايوه خبره ده چه په غړيدلو سترګو باندې پټئی کيږدی.

Scanned with Ca

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

| ایا نو اونۀ ګرزیدل دوئ | په زمکه کښی

| ایادوئ په زمکه کښې ګرځیدلی نه دی

فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ كَانُوا

چی کتلی نی وی | چی څرنګې وؤ | انجام دهغه کسانو | چی مخکښی ددوئ نه وؤ | ووؤ هغوئ |

چې دائې کتلی وې | چې ددوئ نه دوړاندینو خلقو انجام څه شو ؟ | هغوئ خوددوئ نه

أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَآثَارًا

زیات په شماره کښی | ددوئ نه | او زیات سخت وؤ | په قوت کښی | او په اثراتو پریښودلو کښی |

ډیر وو | اوپه طاقت کښې تر نه زیات وو | ..... او دزمکې په مخ ئې ډیرې

فِي الْأَرْضِ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾

په زمکه کښی | پس هیڅ دفع نۀ کړل | ددوئ نه | هغې چی ووؤ دوئ | چی کول به نې |

نخښې پریښودې وې | نود هغوئ دا ګټه هیڅ په کار رانغله

فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرِحُوا بِمَا

پس هر کله چی راغلل هغوئ ته | رسولان دهغوئ | دواضحه نښو سره | نو خوشحاله شو | په هغې |

کله چې ورته پیغمبرانو (زما په وحدانیت اوخپل رسالت) ښکاره نښې راوړې نو هغوئ په خپل

عِندَهُم مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا

چی دهغوئ سره وؤ | دعلم نه | او چاپیره شو | په هغوئ | هغه عذاب | چی ووؤ هغوئ |

علم باندې خوشحالی شروع کړه | اوپه کوم عذاب پورې چې ئې ټوقې کولې

بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا

په هغوئ پورې | چی ټوقې به نې کولې | پس هر کله چی | اولیدوهغوئ | عذاب زمونږ |

هغه ترې نه راتاؤ شو | ..... نو کله چې دغه خلقو زمونږ عذاب اولیدو

قَالُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ وَكَفَرْنَا بِمَا

نو اوونیل هغوئ | ایمان راوړو مونږه | په الله باندې | یوازې | او انکار کوؤ مونږه | په هغې |

نودائې اووئیل چې مونږ په یو الله ﷻ باندې ایمان راوړې دې | او کوم شریکان

كُنَّا بِهِ مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ

چی ووؤ مونږ | دهغه سره شریک کونکی | پس نۀ ووؤ | چی نفع اورسوی دوئ ته | ایمان ددوئ |

چې مونږ جوړول د هغوئ نه ویزاره یو | خو څه وخت چې هغوی زمونږ عذاب اولیدلو نو دغه ایمان

لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا ۖ سُنَّتَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ

هر کله چی اولیدو هغوئ | عذاب زمونږ | دا طریقه دالله ده | هغه | چی تیره شوی ده |

ورته هیڅ فائده ورنکړه | دا د الله ﷻ عام قانون دې چې دبندګانو په

Scanned with Ca

فِيْ عِبَادِهٖ ۚ	وَخَسِرَ	هُنَالِكَ	الْكٰفِرُوْنَ ۝
په بندګانو دهغه کښې	او په تاوان کښې راغلل	په دغه وخت کښې	کافران
باره کښې د پخوا راروان دي	اوپه هغه وخت کښې کافران تاوانيان پاتې شول		

قوله تعالى:: اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

موجوده مشرکانوته خبرداري:- الله ﷻ دهغه وړاندينوخلقو خبرورکوی کومو چه دې نه وړاندې رسولان دروغ ګنړلې وو. دې سره ښانې چه هغوی د دې نتيجه څه اومونډله. سره ددې چه هغوی طاقتور وو ډير وو په زمکه کښې ښې ښانې اوعمارتونه ئې هم ډير لرل اوډير مالداره وو خوهيڅ څيز دهغوی په کاررانغلوچاهم دالله ﷻ عذاب لرې نه کړو نه ئې کم کړو نه ئې اخواکړو.اودوی خووهم دغرقيدو قابل ځکه چه کله دالله ﷻ قاصد هغوی له صفاصفا دليلونه اوحجتونه اوښکاره معجزې پاک تعليمات راوړل نوهغوی يونظرهم اونه کتل. دخپل ځان په علومو باندې مغروره شو اود رسولانودتعليم ئې سپکاوې اوکړو.وئيل ئې هم مونږډيرعالمان يوحساب کتاب عذاب اوثواب هيڅ څيز نشته. خپل جهالت ئې علم اوګنړلوبياخود الله تعالى هغه عذاب راغلو چه دهغوی نه هيڅ هم جوړنه شو اوچه کوم څيز ئې دروغ ګنړلواوپه څه به ئې مخ پوزه چونړله اوکوموپورې چه به ئې تړقې مسخرې کولې هم هغې هغوی تباه بربادکړل ختم ئې کړل لاندې باندې ئې کړل د مالوچوپه شان ئې اوويشنل اود بوسويه شان ئې والوزول.

قوله تعالى:: فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا

عذاب کتلوسره د ايمان راوړو څه فائده؟:: د الله ﷻ عذابونه ئې راتلونکې بلکه راغلې ليدلوسره د ايمان اقرار اوکړو اوتوحيدئې هم اومنلو اود غيرالله نه ئې صفا انکارهم اوکړو خودهغه وخت نه توبه قبوله ده اونه دهغوی اسلام مسلم. فرعون هم په غرقيدوکښې وئيلې ووچه زه اسلام قبلوم. دالله تعالى دطرف نه جواب ملاويږی چه اوس ايمان راوړل بې فائدې دی ډير نافرمانئی او شيطانئی دې کړی دی. موسى ﷺ هم د دې سرکش دپاره هم دادعاکړې وه چه اې الله د فرعونيانو زړونه دومره سخت کړې چه د دردناک عذاب د ليدلوپورې هغوی ته ايمان نصيب مه کړې. نودلته هم د الله تعالى فرمان دې چه عذابونه ليدلوسره دهغوی د ايمان قبلولوهغوی ته هيڅ فائده اونه رسوله. داحکم د الله تعالى عام دې. ځوک هم چه عذابونه اوګوری اوتوبه اوکړی د هغه توبه قبوله نه ده. حديث شريف کښې دی د غرغرې نه اول پورې توبه قبوله ده(۱) کله چه سا په سينه کښې اونخته روح حلق ته اورسيده فرښتې دې اوکتلې نودې وخت کښې هيڅ توبه نشته. د دې د پاره په آخره کښې ارشاد اوفرمائيلو چه کافران په تاوان او نقصان کښې دی.

﴿الحمدلله﴾ دسورت مؤمن تفسير ختم شو.

ايا تونه		سورة حٰمٓ السجدة مكيه وهي اربع وخمسون اية وست ركوعات		ركوع ګاني
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۵۴		شروع کوم په نوم د الله چه ډيرمهربان زيات رحم کونکې دې		۶

حٰمٓ ۝۱	تَنْزِيْلٌ	مِّنَ الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيْمِ ۝۲	كِتٰبٌ
حٰمٓ	نازل کړې شوې دي	دطرفه دښښونکې	مهربانه خدائې نه	يو داسې کتاب دي
حم	داکتاب درحم کونکی مهربان (الله ﷻ) د طرفه نازل شوې دې			دا يو داسې کتاب دې

(۱) ترمذی کتاب الدعوات باب ان الله يقبل توبة.... : ۳۵۳۷وهو حسن،ابن ماجه:۴۲۵۳

فُصِّلَتْ	اٰيٰتُهٗ	قُرْاٰنًا	عَرَبِيًّا	لِّقَوْمٍ
چې واضحه بيان کړې شوی دی	آيتونه ددې	قرآن دې	دعربئ ژبې	دپاره دهغه قوم
چې آياتونه ئې واضحه بيان شوی دی	داقران پاک په عربئ ژه کښې دې	هغه خلقو		
يَّعْلَمُوْنَ ۙ	بَشِيْرًا	وَّنَذِيْرًا ۚ	فَاَعْرَضَ	اَكْثَرُهُمْ	فَهُمْ
چې هغوئ علم لری	زيرې ورکونکې دې	او يرونکې دې	پس مخ واړوو	زياتو ددوئ	پس دوئ
دپاره چې پوهيږی	«دقران پاک» زيرې ورکونکې دې	او «دعذاب نه» ويرنکې دې	خو پدوئ کښې زياتو خلقو تړې		
لَا يَسْمَعُوْنَ ۝	وَقَالُوْا	قُلُوْبُنَا	فِيْٓ اَكِنَّةٍ	مِّمَّا
غوږ نه ږدی خبری ته	اووائی	چې زړونه مونږه	په پردو کښې دی	دهغې نه
مخ اوګرځولو	اودوئ نه اوری	او «کافرانو» اووئيل چې زمونږ زړونه د هغه خبرې نه په پردو کښې		
تَدْعُوْنَآ	اِلَيْهِ	وَفِيْٓ اٰذَانِنَا	وَقْرٌ	وَّمِنْۢ بَيْنِنَا
چې تاسو رابلئ مونږه	هغې ته	او په غوږونو زمونږ کښې	دروندوالې دې	او په منځ زمونږ
دی کوم طرف ته چې تاسو مونږ رابلئ	اوزمونږ په غوږونو کښې کوندوالې دې			
وَبَيْنِكَ	حِجَابٌ	فَاعْمَلْ	اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۝
او په منځ ستاسو کښې	يوه پرده ده	نو ته خپل کار کوه	بيشکه مونږه خپل کار کونکی يو	
اوستا او زمونږ په مينځ کښې د زړونو پرده ده	نو ته خپل کار کوه	اومونږ به خپل کار ونه کوو		

قوله تعالى:: تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

د قران پاک منګرينو ته رټونه:- فرمائی چه دا عربی قرآن پاك د رب رحمن نازل کړې شوې دې لکه چه بل آيت کښې ارشاد دې ستادرب په حکم سره روح الامين په حق سره نازل کړې دې.بل آيت کښې دی روح الامين ستاپه زړه باندې دا ځکه نازل کړې دې چه ته خلقوته خبرورکونکې جوړشې.د دې آياتونه په تفصيل سره دی د دې معنې ښکاره دی احکام ئې مضبوط دی اوالفاظ ئې واضح اوآسان دی. بل آيت کښې دی ﴿كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ۝﴾ (۱)دا کتاب دې چه د دې آياتونه محکم او مفصل دی داکلام دې دخبيراوحکيم الله تعالی د لفظ په اعتبارسره معجز اود معنې په اعتبارسره هم معجز. باطل نه د دې وړاندې راتلې شی اونه روستونه.دحکيم اوحميدرب د طرف نه نازل کړې شوې دې. د دې بيان وضاحت باندې دعلم والا پوهيږی.دايوطرف ته مؤمنانوته زيرې ورکوی بل طرف ته مجرمان ويروی اوکافران ويروی.سره ددې دومره خوبيانوبياهم اکثروقريشو مخ اړولې ګرځی او په غوږونوکښې ئې بوجې ورکړی دی. بياد هغوی نورکبر ته اوګوره چه پخپله وائی ستا په رابللوسره زمونږ زړونه په پردوکښې دی اودا تاچه څه راوړی دی دهغې نه خومونږکانړه يو.اوستا اوزمونږ په مينځ کښې يوه فاصله ده. ستاخبرې نه زمونږ په پوهه کښې راځی اونه زمونږ په عقل کښې ځائ کيدې شی. څه ته په خپله طريقه باندې عمل کوه اومونږخپل طريقه کارهيڅ کله هم نه پريږدو.ناممکن دی چه مونږ ستاسو اومنو.مسندعبدبن حميد کښې دجابربن عبدالله نه روايت دې يوه ورځ قريش راجمع شو اوپه خپلو

(۱) ۱۱/هود:۱.

Scanned with Ca

کښې نې غونډه اوکړه چه په جادو کهانت شعراوشاعرئی کښې څوک وړاندې وی هغه راولئی چه دې سړی له لارشو (یعنی حضور ﷺ) چاچه زمونږ په ډله کښې جدائی اچولې ده اوزمونږ په کارکښې خرابې اچولې دې او زمونږ په دین کښې عیبونه لټول شروع کړی دی چه هغه ده سره مناظره اوکړی اوده ته ماتې ورکړی اوبې جوابه نې کړی. ټولووئیل چه داسې سړې خو په مونږ کښې دعتبه بن ربیعه نه بغیر بل څوک نشته. دا ټول یوځائ شو اوعتبه له راغلل اوخپل خواهش ئې ښکاره کړو. هغه د قوم خبره اومنله اوتیارشو اوحضور ﷺ له راغلو. ونې وئیل ای محمد ﷺ دا اوښایه چه ته ښه ئې که عبدالله؟ (یعنی دحضور ﷺ پلار) حضور ﷺ هیڅ جواب ورنه کړو.ښه د دویم سوال تپوس ئې اوکړو چه ښه ده جواب راکړه چه ته ښه ئې که ستا نیکه عبدالمطلب؟حضور ﷺ په دې باندې هم خاموش پاتې شو هغه ونیل واوره که ته خپل پلار نیکه ښه ګڼې نو تاته خو معلومه ده چه هغوی هم د دې معبودانو عبادت کولو دکوموچه مونږ عبادت کوو اود چا چه ته عیبونه لټوې. اوکه ته خپل ځان د هغوی نه ښه ګڼې نو خبرې کوه مونږ هم ستا خبرې اورو. د الله تعالی قسم چه په دنیاکښې یوانسان هم د خپل قوم د پاره ستانه نقصان رسونکې نه دې پیداشوې. تازمونږ ډله ماته کړه تازمونږ اتفاق په بې اتفاقئی سره بدل کړو.تا زمونږدین عیب دار جوړکړو اوپه هغې کښې دې بدی راویستله. تا په ټولوعربوکښې مونږ رسوا او بدنام کړو.نن په هر ځائ کښې هم دا تذکره ده چه په قریشوکښې یوجادوګر دې په قریشوکښې یو کاهن دې.اوس خوصرف هم دا یوه خبره باقی پاتې ده چه په مونږ اوتاسوکښې مقابله وی اووسله را واخلواوهم داسې جنګ اوجدل شروع کړو اوته مونږ ټول فناکول غواړې. واوره که ستا د مال تمناوی نو واخله مونږ ټول به تا دومره مالدار جوړکړو چه په عربو کښې به بل ستا په شان مالدار نه وی. اوکه ستا دښځو شوق وی نوپه مونږ کښې چه دکوم یولورستاسو خوښه وی نواوښایه مونږ به یونه لس لس ودونه تاله اوکړو.دې ټولوخبروکولونه پس هغه لږه شان ساه واخسته نوحضور ﷺ اوفرمائیل چه اوس دې بس اووئیل که نه؟هغه ونیل اوحضور ﷺ اوفرمائیل اوس زما واوره ﴿بسم الله﴾ئی اولوستله اوهم ددې سورت تلاوت ئی شروع کړواوتقریبا یوه نیمه رکوع ﴿صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ﴾[1] پورې تلاوت ئی اوفرمائیلو. دومره اوریدو سره عتبه چغې کړې بس که بس که تاسره د دې نه سوا هیڅ نشته؟ حضور ﷺ اوفرمائیل نه. اوس هغه ددې ځائ نه لاړو پاسیدو.دقریشو ګڼره دهغه په انتظاروه.هغوی کتو سره اووئیل وایه څه خبره اوشوه؟عتبه وئیل واورئی تاسو ټولوچه په یوځل هغه ته څه وئیل ماځان له هغه ته هرڅه اووئیل. هغوی ونیل چه بیا هغه څه جواب هم درکړو؟ ونیل اوجواب خوئې راکړو خو په خدائی چه زه د هغه په یوټکی هم پوهه نه شوم. خودومره پوهه شوم چه هغه مونږ ټول د آسمانی عذاب نه اوویرولو کوم عذاب چه په عادیانو اوثمودیانو راغلې وو.هغوی وئیل خدائی دې تا اووهی یوسړې په عربی ژبه کښې کومه چه ستا خپله ژبه ده تاسره خبرې کوی اوته وائی چه زه هډو پوهه نه شوم چه هغه څه اووئیل. عتبه وئیل زه رښتیاوایم بغیرد عذاب نه زه په بل هیڅ هم پوهه نه شوم[2] بغوی هم داروایت راوړې دې په دې کښې دا هم دی چه کله حضور ﷺ ددې آیت تلاوت اوکړو نوعتبه دحضور ﷺ په خُله مبارکه باندې لاس کیخودواوحضور ﷺ ته ئې قسمونه ورکړه اورشته داری وریاده کړه.ددې ځائ نه اولته پښې لاړو کور کښې کیناستو اود قریشو سره ئې ناسته پاسته پریخوده. په دې باندې ابوجهل وئیل قریشو زما خیال دې چه عتبه هم د محمد ﷺ طرف ته ښکته شو اود هغه ځائ په خوراک څښاک کښې اخته شو هغه وو هم حاجت مند.ښه ده تاسو ماسره شئی زه هغه له ورځم هغه به زه ټیک کړم. هلته لاړو ونې وئیل چه

---

[1] ٤١/حم السجدة: ١١٣.

[2] ابن ابی شیبه:١٤/٢٩٥ وسنده حسن، مسند ابی یعلی:١٨١٨، حاکم:٢/٢٥٣-٢٥٤، دلائل النبوة:٢/٢٠٢، مجمع الزوائد:٦/٢٠.

Scanned with Ca

عتبه تادامونږ سره تګ راتګ اوناسته پاسته پریخوده د دې وجه خوصرف هم یوه معلومیږی چه ستا د هغه دسترخوان خوښ شو اوته هم د هغه طرف ته ټیټ شوې. حاجت مندی خراب څیز دې. زما خیال دې چه مونږ په خپل مینځ کښې چنده کوو اوستا حالت به ټیک کړو دې د پاره چه د دغه مصیبت اوذلت نه ته خلاص شې. د دې نوی کور اوددې نوی مذهب تاته هیڅ ضرورت نشته. پدې باندې عتبه ډیر غصه شو اوونی وئیل زماد محمد ﷺ نه څه غرض دې؟ په الله تعالی قسم اوس خوبه هغه سره بیاخبره هم اونه کړم اوتاسو زما متعلق داسې ذلیل خیالات ښکاره کوئی سره د دې چه تاسو ته معلومه ده چه په قریشوکښې زما نه زیات مالدار هیڅ څوك نشته. خبره صرف دا ده چه زه ستاسو په وینا هغه له لاړم ټوله قصه ئی واورواله او ډیرې خبرې ئی اوکړې. زما په جواب کښې چه هغه کوم کلام اولوستلو والله نه خو هغه شعروو نه د کهانت کلام وو اونه جادو وغیره وو. هغه چه کله دې سورت لوستلو سره دې آیت ﴿فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ﴾[1] ته اورسیدلونومادهغه په خُله باندې لاس کیخودو او هغه ته مې رشتې اوخپلولئی وریادې کړې چه لله منع شه زه خوویریدلې ووم چه چرته هم په دې وخت په مونږ عذاب رانه شی اودا خو تاسو ټولوته معلومه ده چه محمد ﷺ دروغژن نه دې.

په سیرت ابن اسحاق کښې داواقعه په بله طریقه سره ده.پدې کښې دی چه د قریشو ګنډه یوځل په مجلس کښې ناسته وه اوحضور ﷺ د خانه کعبه په یوګوټ کښې ناست وو. عتبه قریشو ته اووئیل که ستاسود ټولو مشوره وی نو زه به محمد ﷺ له لاړشم اوهغه به لږ شان پوهه کړم اوځه لالچ به ورکړم. که هغه څه خبره قبوله کړی نومونږ به ئی ورکړو اوهغه به د خپل کارنه بندکړو.داواقعه د هغه وخت ده چه حضرت حمزه ﷺ مسلمان شوې وو اودمسلمانانو شمیر معقول شوې وو اوهره ورځ به ئی ترقی کوله. ټول قریش په دې باندې رضاشو.دې حضور ﷺ له راغلو اوونی وئیل وراره ته د اوچت نسب نه ئی ته زمونږ نه ئی اوزمونږ د سترګوتور اود زړه ټکړه ئی. افسوس تاخپل قوم له یوعجیبه او حیرانونکې څیز راوړوتاپه هغوی کښې بې اتفاقی واچوله.تادهغوی عقل مند بې وقوفان اوګنړل. تاد هغوی د معبودانو عیبونه بیان کړل. تادهغوی دین ته خراب وئیل شروع کړل.تادهغوی مشرانواوبوډاګانوته کافران اووئیل.اوس واوره زه نن تاله یوې آخری او ډیرې اهمې فیصلې له راغلې یم. زه ډیر صورتونه پیش کوم په هغې کښې چه کوم ستا خوښ وی هغه قبول کړه اود الله تعالی د پاره دافتنه راغونډه کړه. حضور ﷺ اوفرمائیل چه ته څه وائې وایه زه ئی اورم. هغه وئیل واوره که ستا د دې چال نه مطلب مال جمع کول وی نومونږ ټول به راجمع شو اوتاله به دومره مال درکړو چه تانه به ډیر مالدار په قریشوکښې هیڅ څوك هم نه وی.اوکه ستا اراده ددې نه دخپلې سردارئی وی نومونږ ټول په شریکه تا سردارمنو.اوکه ته بادشاه جوړیدل غواړې نومونږ به تاله ملك درکړو اومونږ دې رعایا جوړیدو ته تیاریواوکه په تاباندې څه د پیری وغیره اثر وی نو مونږ به خپل مال خرچ کړو اود ښه نه ښه طبیب او دم کونکی به راپیداکړو اوستا علاج به اوکړو. داسې کیږی چه بعضې وخت کښې تابع پیری په خپل عامل باندې غالب کیږی نودغه شان د ده نه خلاصې حاصلولې شی. اوس عتبه لږ شان چپ شو نو حضور ﷺ اوفرمائیل خپل هر څه دې اووئیل؟وئیل او.حضور ﷺ اوفرمائیل اوس زماواوره.هغه متوجه شو.حضور ﷺ بسم الله اولوستله اود دې سورت تلاوت ئی شروع کړو. عتبه ښه په ادب سره واوریده تردې چه حضور ﷺ د سجدې آیت اولوستلو اوسجده ئی اوکړه بیائی اوفرمائیل ابوولید ما اووئیل اوس تاته اختیاردې. عتبه د دې خائ نه پاسیدو اوخپلو ملګرولە لاړو. د هغه مخ ته په کتو هر یووئیل چه د عتبه حال بدل شوې دې ده نه ئی تپوس اوکړو وایه څه خبره ده؟ هغه وئیل چه ماخوداسې کلام واوریدو چه والله د دې نه وړاندې مې نه دې اوریدلې.قریشو زما اومنئی اوزما دا تللې شوې خبره اومنئی هغه په خپلو خیالونوباندې پریږدئی

[1] ٤١/حم السجدة:١٣.

مه موافقت کوئی اومه مخالفت. کومه دعوی چه د هغه ده په هغې کښې څه چه وائی په هغې کښې ټول عرب د هغه مخالف دی هغوی خپل ټول طاقت د هغه په مقابله کښې خرچ کوی یاخو به هغه په دوی باندې غالب راشی نوتاسو به په آسانئی سره خلاص شئی یا به دوی په هغه غالب شی نود هغه ملك ته به ستاسو ملك وئیلې شی اود هغه عزت به ستاسو عزت وی اود ټولونه زیات به د هغه په نیز تاسو ډیر مقبول ئی.دې اوریدوسره قریشو وئیل ابوالولید په الله تعالی قسم چه محمد ﷺ په تاباندې جادو اوکړو. هغه جواب ورکړو چه کومه زما رائې وه هغه ما په آزادئی سره بیان کړه اوس تاسو ته دخپل فعل اختیاردی. (۱)

قُلْ	اِنَّمَآ اَنَا	بَشَرٌ	مِّثْلُكُمْ	يُوْحٰٓى	اِلَيَّ	اَنَّمَآ
ورته اووایه	بیشکه زهٔ	یو بشرم یم	په مثل ستاسو	وحی کیږی	ماته	چی بیشکه
ائی نبی ﷺ ته ورته اووایه چې زه خو هم ستا په شان بشر یم				خو ماته دا وحی شوې ده		
اِلٰهُكُمْ	اِلٰهٌ وَّاحِدٌ	فَاسْتَقِيْمُوْٓا	اِلَيْهِ	وَاسْتَغْفِرُوْهُ ؕ		
معبود ستاسو	معبود یو دی	پس نیغ مخ اوکرزوئ	هغه ته	او ببښنه اوغواړئ دهغه نه		
چې ستاسو معبود یو دی	نو دهغه حکم منلو ته تابعدار اوسئ			اوببښنه تری غواړئ		
وَوَيْلٌ	لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۙ﴿۶﴾	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْتُوْنَ	الزَّكٰوةَ	وَهُمْ	
اوهلاکت دی	دپاره دمشرکانو	هغه	چې نهٔ ورکوی	زکاة	او هغوئ	
اودمشرکانو دپاره هلاکت دی	.....		څوک چې زکوة نه ورکوی		اود آخرت نه	
بِالْاٰخِرَةِ	هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۷﴾	اِنَّ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا		
په آخرت باندې	هغوئ	منکر دی	بیشکه هغه کسان	چې ایمان ئې راوړو	او عملونه ئې اوکړل	
منکر وی	بیشکه کومو خلقو چې ایمان راوړو			اونیک عمل ئې اوکړو		
الصّٰلِحٰتِ	لَهُمْ	اَجْرٌ	غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿۸﴾			
نیك	دپاره دهغوئ	اجر دی	چې نهٔ دې بندیدونکې			
هغوئ دپاره داسې بدله مقرر ده			چې هیڅ کله به ختمه نشی			

قوله تعالی:: قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى

دتوحیداورسالت بیان: د الله ﷻ حکم کیږی چه د دې تکذیب کونکو مشرکانو په وړاندې اعلان اوکړه چه زه هم ستاسو په شان انسان یم ماته د الله تعالی د وحی په ذریعه حکم راکړې شوې دې چه ستاسو ټولومعبودیوالله ﷻ دې تاسوچه داګډوډاوډیرمعبودان جوړکړی ناست ئی داطریقه سراسردګمراهئی ده. تاسوټول عبادتونه صرف هم د هغه یوالله تعالی دپاره په ځائ راوړئی اوټیك هم هغه شان څنګه چه د هغه درسول ﷺ په ذریعه تاسو ته معلومه شی اود خپلو وړاندینوګناهونونه توبه اوکړئی دهغې معافی غواړئی یقین اوکړئی چه الله تعالی سره شرك کونکی هلاکیدونکې دی څوك چه زکوة نه ورکوی. یعنی د ابن عباس ﷺ د قول مطابق د لااله الا الله ګواهی نه ورکوی. (۲)عکرمه رحمه الله هم دا فرمائی (۱)قرآن

---

(۱) بیهقی فی دلائل النبوة: ۲/۲۰٤ دلائل النبوة لابی نعیم: ۱۸۵.
(۲) الطبری: ۲۱/٤۳۰.

کریم کښې یوبل ځای کښې دی ﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۝ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۝﴾[۲] یعنی هغه خلاصې بیاموندلوچا چه خپل نفس پاك کړو اوهغه هلاك شو چاچه دا دباوکړو. بل آیت کښې ارشاد دې ﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ۝ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ۝ ﴾[۳] یعنی هغه خلاصې بیاموندلو چاچه پاکوالې حاصل کړو اود خپل رب د نوم ذکر نې اوکړوبیائې مونځ اداکړو. بل ځای ارشاد دې ﴿ فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰٓى اَنْ تَزَكّٰى ۝ ﴾[۴] آیاستاد پاکیدو خیال شته؟ په دې آیاتونوکښې د زکوة نه مطلب نفس دبې هوده اخلاقو نه لرې کول دی. اود تولونه لوی او اول قسم د دې شرك نه پاکیدل دی. دغه شان په پورتنوآیاتونوکښې د زکوة نه ورکولونه توحید نه منل مراد دی. د مال زکوة ته زکوة په دې وجه وئیلې شی چه داد حرمت نه پاکوالې کوی اود زیاتوالی اود برکت اود مال دکثرت ذریعه جوړیږی. اوداللہ تعالی په لارکښې هغه ته د خرچ کولوتوفیق کیږی. خوامام سدی معاویه بن قره، قتاده اواکثرو مفسرینو رحمہم اللہ د دې معنی داکړې ده چه د مال زکوة نه اداکوی اوپه ظاهره هم دا معلومیږی. امام ابن جریر رحمہ اللہ هم دې ته مختار وائی[۵] خودا قول تامل غواړی ځکه چه زکوة فرض کیږی په مدینه منوره کښې تلوسره په دویم کال دهجرت اودا آیت نازل شوې دې په مکه مکرمه کښې. د زیات نه زیات د دې تفسیرمنلوسره مونږ وئیلې شو چه د صدقې او زکوة د اصل حکم خود نبوت په شروع کښې وو لکه چه داللہ تعالی فرمان دې ﴿وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ۝﴾[۶] په کومه ورځ چه فصل کټ کوی نود هغې حق ورکوه. اوهغه زکوة د کوم نصاب اودکوم مقدار چه داللہ تعالی نه مقرردې هغه په مدینه کښې مقررشوې دې. داقول داسې دې په کوم سره چه په دواړو خبروکښې تطبیق هم کیږی. پخپله مونځ ته اوکوره چه دنمر د راختلو اود نمرد ډوبیدلو نه اول دنبوت په شروع کښې فرض شوې وو خود معراج په شپه د هجرته نه دوه نیم کاله وړاندې اولنی پنځه مونځونه په باقاعدګۍ سره د شرطونو اوارکانوسره مقررشو اوپه مزه مزه د دې ټول متعلقات پوره کړې شو. واللہ اعلم. دې نه پس اللہ تعالی ﷻ فرمائی چه د اللہ تعالی منونکو اود نبی د تابعدارانود پاره اجر اوثواب دې چه د همیشه دپاره دې اونه ختمیدونکې دې. لکه چه بل ځای ارشاددې ﴿مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ۝﴾[۷] چه په دې کښې د همیشه همیشه دپاره اوسیدونکی دی. نور فرمائی ﴿عَطَاۗءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ۝﴾[۸] هغوی ته چه کوم انعام ورکولې شی هغه نه پریکیدونکې اویوشان دې. سدی رحمہ اللہ فرمائی چه هغه د هغوی حق دې چه دوی ته ورکړې شو اونه د احسان په توګه. خوبعضې آنمه حضراتوددې تردید کړې دې ځکه چه په جنتیانوباندې هم داللہ ﷻ احسان یقینًا دې. پخپله په قرآن پاك کښې دی ﴿بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝﴾[۹] بلکه د اللہ ﷻ په تاسوباندې احسان دې چه هغه تاسو ته دایمان هدایت کوی. دجنتیانوقول دې ﴿فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ۝﴾[۱۰] نواللہ تعالی په مونږ باندې احسان اوکړو اود اُورد عذاب نه ئې بچ کړو. رسول اللہ ﷺ فرمائی مګر دا چه اللہ تعالی ما په خپل رحمت کښې واخلی اوپه خپل فضل اواحسان کښې. [۱۱]

---

[۱] الطبری: ۲۱/۴۳۰.
[۲] ۹۱/الشمس: ۹-۱۰.
[۳] ۸۷/الاعلی: ۱۴-۱۵.
[۴] ۷۹/النازعات: ۱۸.
[۵] الطبری: ۲۱/۴۳۱
[۶] ۶/الانعام: ۱۴۱.
[۷] ۱۸/الکهف: ۳.
[۸] ۱۱ /هود: ۱۰۸.
[۹] ۴۹/الحجرات: ۱۷.
[۱۰] ۵۲/الطور: ۲۷.
[۱۱] صحیح بخاری کتاب المرضی باب تمنی المریض الموت: ۵۶۷۳.

Scanned with Ca

قُلْ أَئِنَّكُمْ

| ورته اووایه | آیا بیشکه تاسو |

| ته تپوس اوکړه چې آیاتاسو خلق

لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ

خامخا کفر کوئ | دهغه الله سره | چې هغه پیدا کړه زمکه | په دوؤ ورځو کښې | او جوړوئ تاسو |

دهغه ذات نه انکار کوئ | چاچې په دوؤ ورځو کښې زمکه پیدا کړې ده ؟ | اوهغه سره

لَهُ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ۝٩ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ

هغه لره | شریکان | هم دغه | رب دمخلوق دي | او هغه ودرول | په هغې کښې | غرونه |

شریکان جوړوئ | هم دا (الله ﷻ) د ټول جهان رب دي | او د دي زمکې دپاسه ئې

مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا

دپاسه دهغې | او برکتونه ئې کیښودل | په هغې کښې | او په اندازه ئې کړل | په هغې کښې |

درانه غرونه پیدا کړل | او په زمکه کښې ئې برکتونه کیخودو | او قسم قسم غلې ئې

أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ ۖ سَوَاءً لِّلسَّائِلِينَ ۝١٠ ثُمَّ اسْتَوَىٰ

خوراکونه دهغې | په څلورو ورځو کښې | برابر برابر دپاره دغوښتونکو | بیا هغه توجه اوکړه |

په کښې په څلورو ورځو کښې په اندازه کړل | دغه ځیزونه دتپوس کونکو دپاره پوره دي | بیا (الله ﷻ)

إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا

اسمان ته | او هغه لوګي وو | پس وې وئیل | دغه اسمان ته | او زمکې ته | چې راشی دواړه |

اسمان طرفته متوجه شو | او هغه لوګي ځوندي وو | نو اسمان او زمکې ته ئې اووئیل

طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ۖ قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ۝١١ فَقَضَاهُنَّ

پخپله خوښه سره | یاپه زور سره | اووئیل دواړو | راغلو مونږه | پخپله خوښه سره | پس جوړ ئې کړل

چې تاسو دواړه په رضا راشئ یا په زور | دواړو اووئیل چې مونږ درته په رضا حاضر یو

سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا ۚ

اوه آسمانونه | په دوه ورځو کښې | اووې لیږلو | په هر آسمان کښې | (کار) قانون دهغې |

نو په دوه ورځو کښې ئې اووه آسمانونه پیدا کړل | اوهر آسمان ته ئې دهغه مناسب حکم ورا ولیږلو

وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ ۖ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ

اوښائیسته کړو مونږه آسمان نزدې (ددنیا) | په ډیوؤ سره | او په ساتنې سره | دا اندازه (منصوبه) ده

او مونږ (دټولو نه نزدې) ددنیا آسمان په ډیوؤ (یعنی په ستورو) ښائسته کړې دې | او دهغه حفاظت مو کړې دې

الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ۝١٢

دغالب او دپوهه خدائ |

داد زبردست (او) علم والا (پروردګار) انتظام دې

قوله تعالی:: قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِیْ خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ یَوْمَیْنِ
زمکه اوآسمان په کوم ترتیب سره پیدا کړې شو:-دهرځیز خالق د هرځیز مالك اوپه هرځیز حاکم په هر ځیز قادر صرف هم الله ﷻ دې نوعبادتونه هم د هغه کول پکاردی. هغه د زمکې په شان وسیع مخلوق د خپل قدرت په کمال سره صرف په دوو ورځوکښې پیداکړې ده.تاسو له نه دهغه سره کفرکول پکاردی اونه شرك.ځنګه چه دټولوپیداکونکې هم صرف هغه یودې ټیك دټولوپالونکې هم هغه یودې. دا تفصیل یادساتئی چه نورو آیاتونوکښې د زمکې او آسمان پیداکول په شپږو ورځوکښې بیان شوی دی اودلته د هغې د پیداکولو جدا وخت بیانولې شی نومعلومه شوه چه اول زمکه جوړه کړې شوې ده. د عمارت جوړولوقاعده هم دا ده چه اول بنیادونه اولاندینئی حصه تیارولې شی بیاپورتنئی حصه اوچت جوړولې شی. د کلام الله مبارك په یو بل آیت کښې دی الله تعالی هغه ذات دې چاچه ستاسو د پاره په زمکه کښې څه هم دی پیداکولوسره بیاد آسمان طرف ته توجه اوفرمائیله اوهغه ئی ټیك اووه آسمانونه جوړکړل. اوپه سورت نازعات کښې ﴿وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا﴾(۱)دی اول دآسمان دپیداکولوذکردې بیا فرمائی چه زمکه ئی ددې نه پس خوره کړه.ددې نه مراد د زمکې نه اوبه ګیاه راویستل اود غرونو اودرولی دی لکه چه ددې نه پس بیان دې. یعنی اول زمکه پیداکړې شوه بیا آسمان اوبیانی زمکه ټیك ټاك کړه. نو دغه شان په دواړو آیاتونوکښې څه فرق نشته. په صحیح بخاری شریف کښې دی یوسړی د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه تپوس اوکړو د قرآن پاك په بعضې آیاتونوکښې ماته څه اختلاف شان ښکاری. په یوآیت کښې دی ﴿فَلَآ اَنْسَابَ بَیْنَهُمْ یَوْمَىِٕذٍ وَّلَا یَتَسَآءَلُوْنَ﴾(۲)یعنی د قیامت په ورځ به نه د یوبل نسب وی اونه به د یوبل نه سوال کولې شی. په دویم آیت کښې دی ﴿وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ یَّتَسَآءَلُوْنَ﴾(۳) په خپل مینځ کښې به د یوبل نه تپوس پوښتنه کوی. یوبل آیت کښې دی ﴿وَلَا یَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِیْثًا﴾(۴) یعنی د الله ﷻ نه به څه خبره نه پټوی. په دویم آیت کښې دی چه مشرکان به وائی ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِیْنَ﴾(۵)په الله ﷻ قسم چه مونږ شرك نه دی کړی.یوآیت کښې دی زمکه ئی دآسمان نه پس خوره کړه. ﴿وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا﴾(۶)بل آیت کښې ﴿قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِیْ خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ یَوْمَیْنِ وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗۤ اَنْدَادًا ؕ ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ﴾(۷)اول د زمکې پیداکول اوبیاد آسمان د پیدائش ذکر دې. یوخود دې آیاتونوصحیح مطلب راته اوښایه په کوم سره چه اختلاف ختم شی. بل دا چه کوم فرمائیلې دی ﴿وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا﴾ ﴿وَكَانَ اللّٰهُ عَزِیْزًا حَكِیْمًا﴾ ﴿وَكَانَ اللّٰهُ سَمِیْعًا بَصِیْرًا﴾نوځه مطلب دې چه الله ﷻ داسې وو؟ددې په جواب کښې ابن عباس ﷺ اوفرمائیل په کومودوو آیاتونوکښې پخپل مینځ کښې سوال جواب دې اوپه یوکښې ددې انکاردې دا دوه وختونه دی. په شپیلئی کښې به دوه پوکې وهلې شی په یوکښې دخپل مینځ تپوس پوښتنه نه شی کیدې اود یو نه پس به د خپل مینځ تپوس پوښته کولې شی. په کومو نوروآیاتونوکښې چه په یوکښې د خبرې نه پټولو او په دویم کښې د پټولوذکر دې داهم دوه موقعې دی. کله چه مشرکان اوګوری چه دموحدینو ګناهونه اوښلې شو نووائی به چه مونږ خومشرکان نه ووخوچه کله ئی په خُله باندې مهراولګی اود

---

۱) ۷۹/النازعات: ۳۰.
۲) ۲۳/المؤمنون: ۱۰۱.
۳) ۵۲/الطور: ۲۵.
۴) ٤/النساء: ٤۲.
۵) ٦/الانعام: ۲۳.
۶) ۷۹/النازعات: ۳۰.
۷) ٤۱/حم السجدة: ۹.

Scanned with Ca

بدن اندامونه ئی گواهی ورکول شروع کړی نواوس به هیڅ هم نه پټیږی اوهم پخپله به د خپلو کړو اقراری شی.اووئیلي به شی چه افسوس مونږ دزمکي برابرکړي شوي وي.د آسمان اوزمکي دپیداکولو په ترتیب کښي هم څه اختلاف نشته. اول په دوو ورځوکښي زمکه جوړه کړي شوه بیا په دوو ورځوکښي آسمان جوړکړي شو بیادزمکي څیزونه اوبه ګیاه غرونه قوتکانړی شکه کانړی غونډئی وغیره په دوو ورځوکښي پیداکړي. هم دا معنی د لفظ ﴿دحها﴾ده.نود زمکي پوره پیداکیدل په څلورو ورځوکښي اوشو او په دوو ورځوکښي آسمان. اوکوم نومونه چه الله ﷻ مقررکړی دی د هغې بیان ئی فرمائیلي دي. هغه به د همیشه همیشه د پاره هم داسي وی.دالله ﷻ هیڅ یوه اراده بغیرد پوره کیدونه نه پاتي کیږی. په قرآن پاك کښي هیڅ کله هم اختلاف نشته.ددي یویولفظ د الله ﷻ د طرف نه دي. (۱) زمکه الله ﷻ په دوو ورځوکښي پیداکړي ده یعنی د اتوار اوپیرپه ورځ. په زمکه کښي هم د زمکي د پاسه غرونه جوړکړي شو اوزمکه هغه د برکت نه ډکه پیداکړه. تاسو په دي کښي تخم کرئی ونې میوې وغیره د هغې نه پیداکیږی. اود زمکي مخلوق ته چه د کومو څیزونو ضرورت دي هغه هم د دي نه پیداکیږی. دفصلونو اوباغونو ځایونه په دي کښي هم هغه جوړکړی دی.دزمکي دا صحیحوالي د نهې اوچارشنبې په ورځ شوي دي. په څلورووورځوکښي دزمکي پیدائش ختم شوي دي.کوموخلقو چه ددي معلومات حاصلول غوښتل هغوی ته پوره جواب ملاوشو. په هره حصه کښي هغه هغه څیزونه ورکړی دی چه د هغه ځائ د پاره لائق وو مثلاً عصب په یمن کښي، سابوری سابور کښي طیالسه رے کښي. (۲) هم دا مطلب د آیت د آخری جملي دي. دا هم وئیلي شوی دی چه د چا کوم ضرورت وو الله تعالی د هغوی د پاره راپیداکړو. هم د دي معنې تائیدد الله تعالی د دي فرمان نه کیږی. ﴿وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ۝﴾ (۳)تاسو چه څه اوغوښتل الله ﷻ هغه درکړل. والله اعلم.

قوله تعالی:: فَقَالَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ؕ

اسمان او زمکي ته د ارتلو حکم او ددي مطلب: بیا الله ﷻ د آسمان طرف ته توجه اوفرمائیله هغه د لوګی په شکل کښي وو دزمکي دپیداکولوپه وخت کښي داوبوکوم بخارات اوچت شوی وو.دواړو ته ئی اوفرمانیل چه یاخوزماحکم اومنئی اوچه زه څه وایم هغه شئی په خوشحالئی سره یا په ناخوشحالئی. ابن عباس ﷺ فرمانی مثلاً آسمانونوته اوفرمائیلي شو چه نمر سپوږمئی اوستوری راوخیژوئی. زمکي ته ئی اوفرمانیل خپل نهرونه روان کړه خپلي میوي راوتوکوه وغیره. دواړه دحکم منلود پاره په خوشحالئی سره په رضا تیارشو اوعرض ئی اوکړو چه مونږ سره دهغه ټول مخلوق کوم چه ته راپیدا کول غواړي حکم منونکی یو.اووئیلي شوی دی چه هغوی ئی دقایم مقام کلام کونکو په شان کړل او دا هم وئیلي شوی دی چه د زمکي دي حصي کلام اوکړو کوم ځائ چه کعبه جوړه کړي شوي ده اود آسمان هغه حصي کلام اوکړو چه بالکل د دي د پاسه دي. والله اعلم.

امام حسن بصری رحمه الله فرمانی که چرې آسمان اوزمکي د تابعدارئی اظهارنه کولو نودوی ته به سزا کیدله دکوم چه احساس هم نه کیږی. په دوو ورځوکښي اووه آسمانونه هغه جوړکړل یعنی د زیارت او جمعه په ورځ او په هریوآسمان کښي چه هغه کوم کوم څیزونه اوځنګه ځنګه فرښتي مقررول غوښتل مقررئی کړي اوددنیا آسمان ئی په ستوروبنائسته کړو چه دزمکي نه پرقیږی. اودهغه شیطانانو خیال ساتی چه دملاء اعلی خبرې اوریدو دپاره پاس ختل غواړی. دا تدبیراواندازه د هغه الله تعالی ده چه په هر څه باندې غالب دي اود کائنات په یوه یوه حصه کښي د هریوپټ څیز حرکت پیژنی. د ابن جریر رحمه الله په روایت کښي دی یهودیانودرسول الله ﷺ نه دزمکي اوآسمان باره کښي سوال اوکړو نوحضور ﷺ

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیرسورة حم السجدة قبل حدیث:٤٨١٦.
۲) الطبری:٤٣٦/٣١.
۳) ١٤/ابراهیم:٣٤.

Scanned with Ca

اوفرمائیل چه الله تعالی د اتوار اوپیر په ورځ زمکه پیداکړه اوغرونه ئی د نهې په ورځ پیداکړل اوچه
څومره فائدې په دې کښې دی. دچارشنبې په ورځ اوبه ونې ښارونه آبادئی او شارې ئی پیداکړې نودا
څلور ورځې شوې. ددې بیانولونه پس بیا حضور ﷺ د دې آیاتونو تلاوت اوفرمائیلو اوونی فرمائیل چه
د زیارت په ورځ ئی آسمان پیداکړو اود جمعه په ورځ نمر سپوږمئی ستوری او فرښتې پیداکړې د
دریوساعتوباقی کیدو پورې. بیائی په دویم ساعت کښې په هریوځیز کښې آفت واچولو د کوم نه چه
خلق فائدې اوچتوی. اوپه دریم ساعت کښې آدم علیه السلام پیداکړو هغه ئی په جنت کښې آبادکړو ابلیس ته
ئی د هغه د سجدې حکم اوکړو اوپه آخری ساعت کښې ئی د هغه خائ نه اوویستلو. یهودیانووئیل شه
ده حضور ﷺ دې نه پس څه اوشو؟ ونی فرمائیل بیا په عرش باندې مستوی شو. هغوی وئیل چه هرڅه
دې ټیک اووئیل خوآخری خبره دې اونه کړه چه بیائی آرام اوکړو. په دې باندې حضور ﷺ سخت خفه شو
اوبیادا آیت نازل شو ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ۝ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ
رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ۚ﴾ (۱) یعنی مونږ آسمان اوزمکه کښې هرڅه چه ددې په مینځ کښې دی
ټول په شپږو ورځوکښې پیداکړل اومونږ ته هیڅ قسم سترې والې اونه شو ته د دوی په خبرو صبرکوه.
داحدیث غریب دې. بل روایت کښې دی ابوهریره رضی الله عنه فرمائی زما لاس په نیولوسره رسول الله ﷺ
اوفرمائیل الله تعالی خاوره د هفتې په ورځ پیداکړه په دې کښې غرونه د اتوار په ورځ کیخودل ونې ئی
د پیر په ورځ پیداکړې مکروه څیزونه ئی د نهې په ورځ پیداکړل نور ئی د چارشنبې په ورځ پیداکړو
اوخناور ئی په زمکه کښې د زیارت په ورځ خواره کړه اود جمعه په ورځ د مازیګرنه پس د جمعه په
آخری ساعت کښې حضرت آدم علیه السلام پیداکړو اوپیدائش پوره شو. (۲) امام بخاری رحمه الله په تاریخ کښې دا
معلل خودلې دې او فرمائیلی دی چه دا بعضې راویانو د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه
د کعب احبار رحمه الله نه روایت کړې دې اوهم دا ډیر صحیح دی.

فَاِنْ اَعْرَضُوْا	فَقُلْ	اَنْذَرْتُكُمْ			
پس که چرې مخ واړو دوئ انو ورته اووایه		ازهٔ یروم تاسو			
انوکه اوس هم دوئ (دحق نه) مخ اوګرځوی انوته ورته اووایه					
صٰعِقَةً	مِّثْلَ صٰعِقَةِ	عَادٍ	وَّثَمُوْدَ ۝	اِذْ جَآءَتْهُمُ	
دسخت عذاب نه	په مثل	دسخت عذاب	دعادیانو	او ثمودیانو	کله چې راغلل هغوئ ته
چې زه مو د داسې آفت نه ویروم	الکه څنګه چې په عادیانو اوثمودیانو راغلې وو			څه وخت چې هغوئ ته	
الرُّسُلُ	مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ	وَمِنْ خَلْفِهِمْ	اَلَّا تَعْبُدُوْٓا	اِلَّا	
رسولان	مخکښې دهغوئ نه	او دروستو د هغوئ نه	چې تاسو بندګی مه کوئ	مګر	
د وړاندې روستو نه پیغمبران راغلل	(او وې وئیل) چې دالله نه بغیر (دبل چا) عبادت مه کوئ				
اللّٰهَ ؕ	قَالُوْا	لَوْ شَآءَ	رَبُّنَا	لَاَنْزَلَ	مَلٰٓئِكَةً
خاص دالله کوئ	اووئیل هغوئ	که غوښتلې	رب زمونږه	انو خامخا به نې رالیږلې وې	فرښتې
نو هغوئ اووئیل که چرې زمونږ رب غوښتلې		نو زمونږ دهدایت دپاره به نې فرښتې رالیږلې وې			

(۱) ۵۰/ق: ۳۸-۳۹.

(۲) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین باب ابتداء الخلق وخلق آدم علیه السلام: ۲۷۸۹.

Scanned with Ca

فَاِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾

پس بیشکه مونږه | په هغه څیز | چې رالیږلی شوی یئ تاسو | په هغې سره | انکار کونکی یو |

نو مونږ د هغه پیغام نه انکار کوو د کوم د رسولو دپاره چې تاسو رالیږلې شوې یې |

فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا

هر چې عادیان وو | پس تکبر اوکړو هغوئ | په زمکه کښې | په ناحقه سره | اووې وئیل |

نو هرچې عادیان وو | .....نو هغوئ د زمکې په مخ په ناجائزه تکبر شروع کړو | اودائې اووئیل

مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

چې څوک دې زیات سخت | زمونږ نه | په لحاظ دقوت سره | ایاهغوئ اونۀ کتل دې ته | چې بیشکه الله

چې زمونږ نه به زیات څوک طاقتور وی؟ | .....هغوئ دې ته اونه کتل | چې کوم الله ﷻ

الَّذِيْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ

هغه (الله)دې | چې پیدا ئې کړل دوئ | هغه زیات سخت دې | ددوئ نه | په لحاظ دقوت سره |

دوئ پیدا کړی دی | .....هغه ددوئ نه زیات طاقتور دې .....

وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

اووۀ هغوئ | په ایتونو زمونږ | چې انکار ئې کولو تر | پس اولیږله مونږه په هغوئ باندې |

اوزمونږ دایتونو نه ئې انکار کولو | نو مونږ پرې په سپیرو ورځو کښې یوه تیزه سیلئ

رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ

هوا | تیزه | په ورځو سپیرو کښې | دپاره ددې چې وراوخکوؤ مونږ هغوئ ته |

راولیږله | .....چې په دنیا کښې ورباندې د رسوا کونکی عذاب خوند اوخکوو |

عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى

عذاب دشرمندګئ | په ژوند ددنیا کښې | او خامخا عذاب داخرت | زیات دشرمندګئ دې |

.....اود اخرت عذاب به ئې د نور زیات رسوائې سبب شی

وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ

او دهغوئ سره به | هیڅ امداد نۀ کیږی | اوهر چې ثمودیان دی | پس نیغه لار مونږ اوښودله هغوئ ته

اود هغوئ مدد به نشی کولې | .....او ثمودیانو ته مونږ نیغه لار اوخودله

فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ

پس غوره کړل هغوئ | بندول دستر ګو | په ځای د کتلو لارې ته | پس اونیول هغوئ لره | یوې چغې

خو هغوئ دهدایت په مقابله کښې ګمراهی غوره کړه | نو دخپلو عملونو په سبب د یو رسوا کونکی

الْعَذَابِ الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَنَجَّيْنَا

دعذاب | سپکونکی | په سبب دهغې عملونو | چې ووۀ هغوئ | چې کول به ئې | او بچ کړل مونږه

عذاب آفت راګیر کړل | .....اوکومو کسانو چې | ایمان راوړې وو

Scanned with Ca

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸﴾ ع وَيَوْمَ

هغه کسان | چې ایمان ئې راوړې وو | او وو هغوئ | چې ځان به ئې ساتلو دبدعملئ نه | او هغه ورځ

هغوی ته مو نجات ورکړو | اوهغوی زمونږ نه ویریدل | ..... اوپه کومه ورځ

يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۹﴾ حَتّٰٓى

چې راجمع کړې کیږی به | دشمنان دالله | وور ته | پس هغوئ به | حصار ولې کیږی | تر دې پورې

چې دالله ﷻ دښمنان دوزخ ته راجمع کړې شی | نو بیا به په ډلو کښې تقسیم کړې شی | تردې چې

اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ

کله چې | راشی هغوئ دغه دوزخ ته | گواهی به اوکړئ | په هغوئ باندې | غوږونه دهغوئ |

دوزخ ته نزدې ورشی | نو د دوی غوږونه اوسترګې اوځرمنې به پرې د هغه اعمالو گواهی

وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَقَالُوْا

اوسترګې دهغوئ | او څرمنې دهغوئ | په هغې | چې وو هغوئ | چې کول به ئې | اواوبه وائی هغوئ

ورکوی گوم چې دوی (په دنیا کښې) کول | .....او دوئ به خپلو

لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا

څرمنو خپلو ته | ولې گواهی اوکړه تاسو | زمونږ خلاف | اوبه وائی هغوئ | چې گویا نه کړو مونږه

څرمنو ته وائی | چې تاسو ولې په مونږ باندې گواهی ورکړه ؟ هغوئ به اووائی چې مونږ هغه

اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ

الله | هغه | چې گویا نه کړې ئې دې | هر څیز | او خاص هغه | پیدا کړئ تاسو | اول خل |

الله ﷻ گویا کړی یو | چا چې هر یو څیزته د وئیلو طاقت ورکړې دې | اوهغه تاسو اول خل پیدا کړی وئ

وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ

هغه ته به | واپس بوتللې کیږئ | اونه وئ تاسو | چې پټیدلی به په وخت دگناه کښې | چې گنی گواهی به کوی

اوهغه ته به ټول واپس کولې شئ | اوتاسو (دگناه کولو په وخت د دې خبرې نه) نه پټیدلئ | چې

عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ

په تاسو باندې | غوږونه ستاسو | اونه سترګې ستاسو | اونه څرمنې ستاسو | الیکن

ستاسو غوږونه ، سترګې اوځرمنې به ستاسو خلاف گواهی ورکړی | بلکه تاسو

ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾

گمان کړې وو تاسو | چې بیشکه الله | نه پوهیږی | په ډیرو کارونو | دهغې نه | چې کوئ ئې تاسو

گمان کولو | .....چې الله ﷻ ستاسو په کارونو کښې ډیر کارونه نه پیژنی |

Scanned with Ca

وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ	الَّذِيْ	ظَنَنْتُمْ	بِرَبِّكُمْ
او دغه گمان ستاسو	هغه گمان دي	چې گمان به کوئ تاسو	په رب خپل
اودا ستاسو گمان وو	کوم چې تاسو په خپل رب باندې کولو	نو هغه گمان تاسو	
اَرْدٰىكُمْ	فَاَصْبَحْتُمْ	مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝	فَاِنْ يَّصْبِرُوْا
(دغه گمان) هلاک کړئ تاسو	پس شوئ تاسو	دنقصان موندونکونه	پس که چرې صبراوکړو دوئ
هلاک کړئی	اوتاسو په تاوانیانو کښې شامل شوئ	.....	نوکه اوس دوئ صبر(هم) کوی
فَالنَّارُ مَثْوًى	لَّهُمْ ۚ	وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا	فَمَا هُمْ
پس وور	خائې دې	دپاره ددوئ	او که واپس کیدل غواړی دوئ
خو هم دوزخ ددوئ ټیکانړه ده		اوکه چرې دوئ توبه اوکړی	نو ددوئ توبه به
مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ۝			
دواپس کړې شوئ نه			
نشی قبلولې			

قوله تعالی:: فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ

د حق نه د مخ اړولوانجام: حکم کولې شی چه څوک ستا تکذیب کوی اوالله تعالی سره کفرکوی ته هغوی ته اوفرمایه چه زما دتعلیم نه مخ اړول تاسو څه فائده مندې نتیجې ته نه شی رسولې. یاد ساتئی څنګه چه دانبیاء کرامو مخالف امتونه تاسو نه وړاندې تباه بربادکړی دی چرته ستاسود اعمالوبدتاسوهم د هغوی په شان نه کړی. دعادیانواوثمودیانواودهغوی په شان د نورو حالات ستاسوپه وړاندې دی هغوی له پرله پسې رسولان راغله په هغه کلی کښې په دې کلی کښې په هغه علاقه کښې او دې علاقه کښې د الله ﷻ پیغمبرانو د الله تعالی آواز کړې ګرځیدلی خودهغوی په سترګو هغه وازګه خوره شوې وه اوپه دماغوکښې ئی هغه ګند ډک شوې وو چه د یوئی هم اونه منل. خپلې مخې ته به ئی د الله تعالی والا بهتری اودرسول د دښمنانو ابتری کتله خوبیا هم د تکذیب نه منع نه شو. دحجت بازئی نه اخوا نه شو ونیل به ئی که الله ﷻ خامخا رسول رالیګلو نویوه فرښته به ئی رالیګلې وه. ته انسان کیدو سره څنګه رسول جوړشوې؟ مونږ خو به دې باندې هیڅ کله هم یقین اونه کړو.

قوله تعالی:: فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ

د عادیانو سرکشی او غرور:: دې عادیانوپه زمکه کښې فسادخورکړو دهغوی سرکشئی اود هغوی غرور حدته اورسیدو د هغوی بدئی او بې پرواهئی تردې راورسیدې چه آواز ئی اوکړو چه زمونږ نه زیات زوراور نورڅوک نشته. مونږ طاقتور مضبوط اوکلک یو. دالله تعالی عذاب به زمونږ څه اوکړی؟ دومره خواره اوپلن شوچه الله تعالی هم تري هیرشو. دائی هم خیال اونه کړو چه زمونږ پیداکونکې خو دومره طاقتوردې چه دهغه دطاقت مونږ اندازه هم نه شو کولې. لکه چه ارشاددې ﴿وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ﴾[1] مونږ په خپلو لاسونو باندې آسمان پیداکړو اومونږ ډیر طاقتور او زوراوریو. نود هغې په دې کبر او دالله ﷻ درسولانو په دروغ ګنړلو سره اود الله ﷻ نافرمانی کولوباندې اودرب د آیاتونو په انکار باندې

[1] ۵۱/الذریت:۴۷.

Scanned with Ca

په هغوی باندې عذاب راغلو. تنده تیزه یخه ویرونکې او کړنګیدلې سخته سیلئی راغله دې د پاره چه دهغوی دکبرنشه ختمه شی اوهغوی په هواسره تباه کړی﴿صرصر﴾ وائی هوا د آواز والا. د مشرق طرف ته یونهر دې چه په ډیر زورآواز سره بهیږی. په دې وجه دې ته هم عرب صرصر وائی﴿نحسات﴾ نه مراد یو بل پسې. یودم یوشان اووه شپې اواته ورځې دغه هواګانې وې. هغه مصیبت کوم چه په هغوی باندې د مصیبت په ورځ راغلو هغه بیا د اتو ورځو پورې نه اخوا شو نو ختم شو. ترکومې چه ئی یویو فنانه کړو اودهغوی تخم ئی اوکنستلو. اودې سره دآخرت د عذابونوهم نورئی جوړشو د کوم نه چه زیات د توهین او ذلت نه بله هیڅ سزا نشته. نه په دنیاکښې څوک د هغوی د امدادد پاره راورسیدل اونه په آخرت کښې د هغوی د امداد د پاره راپاسیدل. بې یارو اومددګار پاتې شو.

قوله تعالی:: وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَٰهُمْ

د ثمودیانو هم مونږ لارخودنه اوکړه هدایت مو ورته اوکړو په هغوی باندې وضاحت اوکړو هغوی نه مو د نیکئی دعوت ورکړو.دالله ﷻ نبی حضرت صالح ﷺ هغوی ته د الله ﷻ حق ښکاره کړو خوهغوی مخالفت اوتکذیب اوکړو اودنبی الله په صداقت باندې کومه اوښه چه الله ﷻ علامت جوړکړې وو د هغې پندئی پرې کړې. بیا په هغوی باندې هم د الله ﷻ عذاب راغلو.یوزبردست ینه شلونکې چغه او زړه ذره ذره کونکې زلزلې په ذلت او خوارئی سره د هغوی د کړو بدله واخسته. په هغوی کښې چه څومره هغه خلق وو چه په الله تعالی باندې یقین وو د انبیاؤکرامو تصدیق ئی کولو په زړونوکښې ئی د الله تعالی ویره وه هغوی مونږ بچ کړل لږ شان هم ورته ضرر اوتکلیف ملاونه شو اود خپل نبی سره ئی د ذلت سپکاوی اوعذاب نه خلاصې بیاموندو.

قوله تعالی:: وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ اللَّهِ

د قیامت په ورځ د بدن د اندامونو ګواهی:- یعنی دې مشرکانوته اووایه چه د قیامت په ورځ به د هغوی حشر دوزخ طرف ته وی اود دوزخ داروغه به دا ټول راجمع کوی. لکه چه ارشاد دې ﴿وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا﴾[1]یعنی ګناهګاران به د سختې تندې په حالت کښې مونږ ددوزخ طرف ته ورشړو. هغوی به د دوزخ په غاړه اودرولې شی اودهغوی دبدن اندامونه غوږونه سترګې اوژمن به د هغوی د اعمالو ګواهی ورکوی. ټول وړاندې روستو عیبونه به رابښکاره شی. د بدن هریو اندام به وائی چه په ما باندې ده دا ګناه کړې ده. هغه وخت به دې خپلو اندامونو ته متوجه شی اوهغوی به ملامته کوی چه تاسو زما خلاف ولې ګواهی ورکړه؟ هغوی به دا وائی چه د الله تعالی د حکم پوره کولو لاندې هغه مونږ ته د وینا طاقت راکړو اومونږ رښتیارښتیا اووئیل هم هغه خو ستاسو د شروع نه پیداکونکې دی. هم هغه هریوشیز ته ژبه ورکړې ده. د خالق مخالفت اود هغه دحکم خلاف څوک کولې شی؟ بزارکښې دی حضور ﷺ یوځل مسکی شویائی اوخندل. بیائی اوفرمائیل چه تاسو زماد خندا د وجه تپوس نه کوئی؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم ونیل اوفرمائی څه وجه ده؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د قیامت په ورځ به بنده خپل رب سره جګړه کوی چه یاالله ولې ستا وعده نه ده چه ته به ظلم نه کوې؟ الله تعالی به اقرار کوی نوبنده به وائی چه زه خو په خپلو بدعملوباندې د چا ګواهی نه قبلوم. الله تعالی به وائی چه زما اوزماد بزرګو فرښتو ګواهی کافی نه ده؟خوبیابه هم هغه باربارروائی نودحجت د تمامولودپاره به د هغه ژبه بنده کړی اودهغه د بدن اندامونوته به وائی چه هغوی څه څه کړی وو دهغې تاسو ګواهی ورکړئی.کله چه هغوی صفا صفا اورښتونې ګواهی ورکړی نو دې به هغوی ملامته کوی او ورته به وائی چه زه خو هم ستاسو د بچ کولو دپاره جنګیدلم (۲)مسلم نسائی وغیره)ابو موسی اشعری ﷺ فرمائی کافراومنافق به د

---

[1]) ۱۹/مریم:۸۶.

[2]) صحیح مسلم کتاب الزهد باب الدنیا سجن للمؤمن وجنة للکافر:۲۹۶۹.(

Scanned with Ca

حساب دپاره راوغوښتلې شی دهغه اعمال به دهغه په وړاندې پیش کولې شی.نوبه قسمونو خوړلو خوړلو سره به انکارکوې اووائی به ای الله ستا فرښتې هغه لیکلی دی کوم چه ما هیڅ کله هم نه دی کړی. اوس به ورله په خله مهر اووهلې شی اود بدن اندامونه به ئې ګواهی ورکوی. د ټولو نه اول به د هغه ښې پنډئی خبرې کوی. (ابن ابی حاتم).

ابویعلی کښې دی حضور ﷺ فرمائی د قیامت په ورځ به د کافرانوبه وړاندې د هغوی بداعمال راوړلې شی نو هغه به انکارکوی اوجګړه به کوی الله تعالی به وائی چه دادی ستا ګاونډیان کوم چه ګواهان دی دې به ټول دروغژن کړی. فرمائی چه دادی ستا د خاندان والا چه ګواه دی وائی به داهم ټول دروغژن دی الله تعالی به هغوی له قسم ورکړی هغوی به قسم اوخوری خودې به هم انکارکوی. الله تعالی به ټول چپ کړی اوپخپله به د هغه اندامونه ژبې شی اوګواهی به ورکړی بیا به دې دوزخ ته واستولې شی(۱)ابن ابی حاتم کښې دی ابن عباس ﷺ فرمائی د قیامت په ورځ به یووخت داسې هم وی چه نه به چاته د ویناکولواجازت وی اونه دعذمعذرت. بیاچه کله اجازت ورکړې شی نو وینا به کوی او جنګ به کوی اوانکاربه کوی اود دروغوقسمونه به خوری. بیابه ګواهان راوړلې شی اوآخربه ژبې بندې کړې شی اوپخپله د بدن اندامونه لاسونه پښې وغیره به ګواهی ورکوی. بیاچه ژبې کولاو کړې شی نود بدن اندامونه به ملامت کولې شی هغوی به جواب ورکوی چه الله تعالی مونږ ته د خبرو طاقت راکړو نومونږ صحیح صحیح اووئیل نود ژبې اقرار به هم اوشی. ابن ابی حاتم کښې درافع ابوالحسن ﷺ نه روایت دې د خپلو کړو په وجه به ژبه دومره پیړه شی چه خبرې به نه شی کولې. بیا به د بدن اندامونه ته حکم اوشی تاسو وائې نوهریوبل خپل خپل عمل ښائی غوږ سترګه څرمن شرم ګاه لاس پښې وغیره. نورهم د دې قسم آیاتونه د سورت یس کښې آیت ﴿اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾ (۲)تفسیرکښې تیرشوی دی د کوم چه بیا د دوباره ذکر کولوضرورت نشته.

ابن ابی حاتم کښې دی جابربن عبدالله ﷺ فرمائی کله چه مونږ د سمندر د هجرت نه واپس راغلو نود الله ﷺ رسول ﷺ اوفرمائیل تاسوکه دحبشه په زمکه باندې څه حیرانونکې خبره لیدلې وی نوبیان کړئی.یدې کښې یوځوان اووئیل چه یوځل مونږ هلته ناست وو دهغوی د علماؤ نه یوه بوډئی ښځې د اوبومنګې په سر کړې راروانه وه.هم په هغوی کښې یوځوان هغې له دیکه ورکړه په دې سره هغه راپریوتله اومنګې مات شو. هغه پاسیده اود دغه سړی طرف ته ئې اوکتل اووئی وئیل مکاره تاته به د دې حال هغه وخت معلوم شی کله چه الله تعالی خپله کرسئی اولګوی اوټول وړاندې روستوراجمع کړی اوپښې لاسونه به ګواهی ورکړی اویویوعمل به ښکاره شی هغه وخت به ستا اوزما فیصله هم اوشی. دې اوریدو سره حضور ﷺ اوفرمائیل هغې رښتیاوئیلې هغې رښتیاوئیلی. هغه قوم به الله تعالی څنګه پاک کړی په کوم کښې چه زوراور د کمزوری نه بدله وانخستې شی. داحدیث په دې سندسره غریب دی. ابن ابی الدنیاکښې هم دا روایت په بل سند سره هم روایت دې. کله چه دې خپل اندامونه ملامت کوی نواندامونه به جواب ورکولوسره داهم وائی چه ستا عملونه خوشه پټ نه وو. د الله تعالی په وړاندې ته په کفر اوګناه کښې ډوب اوسیدې اوهیڅ پرواه دې نه کوله خکه چه ستا خیال وو چه زمونږ ډیر اعمال د هغه نه پټ دی. هم دې خراب خیال ته تباه اوبربادکړې اوهم په ټن ورځ ته غرق شوی. مسلم ترمذی وغیره کښې د حضرت عبدالله ﷺ نه روایت دې زه د بیت الله په پرده کښې پټ ووم دری کسان راغله. غټې خیټې اوکم عقل. یووئیل ولې جې مونږ چه خبرې کووالله تعالی دااوری؟ بل وئیل که په اوچت آواز سره وینا اوکړو نواوری اوکه په مزه آواز سره خبرې کوو نو نه اوری. دریم وئیل چه څه اوری

---

(۱) ابویعلی.
(۲) ۳۶/یس:۶۵.

Scanned with Ca

نو تولي به اوري. ما حضور ﷺ ته داواقعه بيان کړه په دې باندې دا آيت ﴿وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَكِنْ ظَنَنْتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِمَّا تَعْمَلُونَ﴾ (۱)نازل شو(۲)عبدالرزاق کښې د خُلې بنديدونه پس به د تولونه اول پښې لاسونه خبرې کوی(۳)حضور ﷺ فرمائی دالله رب العزت ارشاد دې چه ماسره زما بنده کوم يوګمان کوی زه هغه سړه هم هغه شان معامله کوم اوکله چه هغه ماته آواز کوی زه هغه سره يم. حضرت حسن بصری رحمه الله دومره وينا کولوسره لږ شان تامل اوکړو بيائی اوفرمائيل د چا چه څنګه ګمان الله تعالی سره وی هم هغه شان دهغه عمل هم وی. مؤمن د الله تعالی سره په نيک ګمان باندې وی نوهغه عمل هم ښه کوی اوکافر اومنافق په الله تعالی باندې بدګمان وی نود هغه هم هغه شان عمل هم وی. بيا هغوی هم دا آيت تلاوت کړو. د مسنداحمد په يومرفوع حديث کښې دی په تاسو کښې دې يوکس نه مری خو په داسې حالت کښې چه د هغه ګمان د الله تعالی سره ښه وی. کومو خلقو چه الله ﷻ سره خراب خيالات ساتلی الله تعالی هغه نيست اونابودکړل. بيا هغوی هم دا آيت اولوستلو. د دوزخ په اُورکښې په صبر سره اوسيدل او بې صبری کول دهغوی د پاره يو شان دی. نه د هغوی عذرمعذرت قبول دې اونه دهغوی ګناه معاف کيږی. که دوی د دنياطرف ته واپس کيدل غواړی هم نو هغه لارهم بنديده.لکه چه بل ځائ دی دوزخيان به وائی اې الله ﷻ په مونږ باندې زمونږ بدبختی راغوره شوه يقيناً مونږ بې لارې وو. اې الله اوس خوته د دې ځائ نه خلاصې راکړې. که بيامونږ داسې اوکړه نومونږ له دخپل ظلم سزا راکړه.دالله ﷻ د طرفنه به جواب راشی چه اوس دامنصوبې بيکاره دی. رټلې شوې هم دلته پراته نی خبردار که ماسره مو خبره اوکړه.

وَقَيَّضْنَا	لَهُمْ	قُرَنَاءَ	فَزَيَّنُوا	
اومقرر کړی ووٴمونږ اهغوئ لره اداسې ملګری اچی ښائيسته به نې ښکاره کولو				
اومونږ دوئ سره (په دنيا کښې) څه (بد) ملګری مقرر کړی وو				
لَهُمْ مَا	بَيْنَ أَيْدِيهِمْ	وَمَا	خَلْفَهُمْ	وَحَقَّ
هغوئ ته اهغه اچی مخکښی دهغوئ نه ووٴ او هغه اچی روستو دهغوئ نه ووٴ او ثابته شوه				
نو هغوئ به ورته خپل وړاندې روستو عملونه ښائسته ښکاره کول اوددوئ په حق کښې هم				
عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ	فِي أُمَمٍ	قَدْ خَلَتْ	مِنْ قَبْلِهِمْ	
په هغوئ باندې اخبره دعذاب اپه هغه ډلو کښی اچی تيری شوې وې امخکښی دهغوئ نه				
د پخوانو امتونو پشان دالله ﷻ (دهلاکت) فيصله ثابته شوه				
مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ	إِنَّهُمْ	كَانُوا	خَاسِرِينَ ﴿٢٥﴾	وَقَالَ الَّذِينَ
دپيريانونه اواو دانسانانونه ابيشکه هغوئ اووٴ انقصان موندونکی اواو وائی اهغه کسان				
که پيريان وو اوکه انسانان ا... بيشکه دوئ تاوانيان دی ا.....او (ائی نبی ﷺ)				
كَفَرُوا	لَا تَسْمَعُوا	لِهَٰذَا الْقُرْآنِ	وَالْغَوْا	
چې دحق نه نې انکار کړې دې ا غوږ مه ږدئ ا دې قران ته ا او شور جوړوئ ا				
کافران وائی چې دا قران پاک مه اورئ ا او (د دې د تلاوت په دوران کښې) چغې وهئ ا				

۱) ٤١/حم السجدة: ٢٢.الخ

۲) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة حم السجدة باب قوله تعالى ﴿وماكنتم تستترون ان يشهدعليكم...﴾:

۳) مصنف عبدالرزاق:۲۰۱۲۵ومسنده حسن، السنن الكبرى:٦/٤٣٩، حاكم:٢/٤٣٩، احمد:٥/٤ومسنده حسن.

Scanned with Ca

فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿۲۶﴾ فَلَنُذِيْقَنَّ

په وخت دلوستلو دهغې کښې | دپاره ددې چې تاسو | غالب شئ | پس خامخا به مونږ مزه ورځکوؤ

کيدې شي چې غلبه بيا مومئ | ..... نومونږ به په دې کافرانو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ

هغه کسانوته | چې انکار ئې کړې دې | دعذاب سخت | او خامخا به بدله ورکوؤ مونږ هغوئ ته |

باندې د سخت عذاب خوند اوځکوو | ..... او دخپلو ښکاره بدو کارونو

اَسْوَاَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ

دبدترين عمل | هغه | چې ووئ هغوئ | چې کوؤ به ئې | دغه | بدله ده | ددشمنانو دالله |

سزاګاني به ورته ورکړو | ..... دالله ﷻ د دښمنانوهم دغه سزا ده | (يعنې) دوزخ

النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيْهَا دَارُ الْخُلْدِ ؕ جَزَآءً بِمَا

چې وور دې | دهغوئ دپاره | په هغې کښې | کور هميشه دې | دا سزا (دهغوئ) | په سبب دهغې |

همدغه د هغوئ د هميشه اوسيدلو کور دې | دا د ددې (خبرې) سزا ده

كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

چې ووئ هغوئ | دآيتونو زمونږ نه | چې انکار به ئې کولو | اواوبه وائي | هغه کسان |

چې هغوئ به زمونږ دآيتونو نه ښکاره انکار کولو | .....او کافران

كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا

چې کفر ئې کړې دې | اے ربه زمونږه | اوښايه مونږ ته | هغه دوه | چې ګمراهه کړې ئې ووئ مونږه |

به وائي | چې ائې زمونږ ربه ! مونږ ته هغوئ دواړه ډلې يعنې پيريان او انسانان

مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا لِيَكُوْنَا

دپيريانونه | او دانسانانونه | چې کړو مونږه هغوئ دواړه | لاندې دقدمونو زمونږ نه | چې شي دواړه |

چې مونږ ئې ګمراه کړې وو اوښايه | چې ئې د پښو لاندې چيخنړې کړو | د دې دپاره چې دواړه ډلې

مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾

ذذليلانونه |

په ذليلو خلقو کښې شامل شي |

قوله تعالى:: وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ

د مشرکانو ملګرې:- الله تعالى بيان فرمائى چه مشرکان هغه ګمراه کړى دى اوداد هغه په رضااوقدرت سره دى. هغه په خپلوټولوکارونوکښې دحکمت خاونددي. هغه څه پيريان اوانسانان هغوى سره داسې کړې وو کومو چه دهغوى بدعملونه هغوى ته په ښه شکل کښې اوخودل چه دتيرشوى وخت په لحاظ او دراتلونکى وخت په لحاظ دهغوى عملونه ښه دى لکه چه بل ايت کښې دى ﴿وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ

لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِيْنٌ﴾ (۱)په دوی دعذاب کلمه رښتیا راغله لکه په هغه خلقوکوم چه ددوی نه وړاندې د دوی په شان وو. په تاوان اونقصان کښې دوی اوهغوی یوشان شو. کافرانو په خپل مینځ کښې مشوره اوکړه او په دې خبره ئې اتفاق اوکړو چه هغوی به کلام الله نه منی اونه به د دې په احکامو باندې راتنګ کوی بلکه یوبل ته ئې وئیلی دی چه کله قرآن پاک لوستلې شی نوشورزوګ کوئی اودا مه اورئی لاسونه پرقوئی شپیلی وهئی او آوازونه اوباسئی.نوقریشو به هم دا کول عیبونه به ئې لټول اوانکاربه ئې کولودښمنی به ئې کوله اودا به ئې دخپلې غلبه ذریعه ګنړله. هم دغه حال دهریوجاهل کافردې چه په ده دقرآن پاک اوریدل ښه نه لګی. ددې دپاره الله تعالی مؤمنانوته ددې په خلاف حکم ورکړې دې ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهُ وَأَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ (۲)کله چه قرآن پاک لوستلې شی نوتاسو چپ اوسئی او دا اورئی دې دپاره چه په تاسو باندې رحم اوکړې شی.

قوله تعالی:: وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْآنِ

قرآن پاک په خاموشئی سره اوریدل پکاردی ::دې کافرانوله دهمکی ورکولې شی چه د قرآن کریم سره د مخالفت کولو په وجه به دوی ته سخته سزا ورکولې شی اود هغوی دبدوعملونو خوندبه هغوی ته ضرور ورځکلې شی. دالله تعالی د دې دښمنانو بدله د دوزخ اُوردې. په کوم کښې چه د هغوی د پاره د همیشه والئ کوردې. دا دهغې بدله ده چه دوی د الله تعالی د آیاتونوانکارکولو. د دې نه پس والا آیت مطلب د علی ﷺ نه روایت دې دپیری نه مراد ابلیس اود انس نه مراد د آدم ﷺهغه ځوئ دې کوم چه خپل رور وژلې وو(۳)بل روایت کښې دی چه ابلیس خو هریومشرک ته آواز کوی اود آدم ﷺ دا ځوئی یه دهرې کبیره ګناه کونکی ته آواز کوی. نوابلیس د شرک طرف ته اود ټولوګناهونو طرف ته د خلقو دعوت کونکې دې اود اول رسول آدم ﷺ دا ځوئ چه د خپل رور قاتل دې (۴)په حدیث کښې دی چه په مخ د زمکې کوم یو ناحقه قتل کیږی د هغې ګناه د حضرت آدم ﷺ هغه رومبی ځوئ ته هم کیږی (۵) ځکه چه دبې خایه قتل کولوشروع هم ده کړې وه.نوکافران به دقیامت په ورځ پیریان او انسانان کومو چه دوی ګمراه کړې وو هغوی به په لاندې درجه کښې رسول غواړی دې دپاره چه په هغوی باندې سخت عذاب وی اوچه هغوی درک اسفل ته لاړشی او د هغوی نه ډیره سزا اوخوری. په سورت اعراف کښې دا هم بیان تیرشوې دې چه دا منونکی چه د چابه ئې منل د هغوی د پاره به د قیامت په ورځ د ډبل عذاب درخواست وی په کوم چه به وئیلې شی چه هریو په ډبل عذاب کښې دې خوتاسو بې شعوره ئې. هریوته دهغه داعمالوسزاورکړې کیدې شی. لکه چه بل آیت کښې دی ﴿وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ﴾ (۶)یعنی کوموخلقو چه کفر کړې اود الله تعالی د لارې نه منع شوی دی هغوی به مونږ د هغوی د فساد په وجه د عذاب دپاسه عذاب کوو.

إِنَّ الَّذِيْنَ	قَالُوْا	رَبُّنَا اللّٰهُ	ثُمَّ اسْتَقَامُوْا
بیشکه هغه کسان	چې وئې وئیل	رب زمونږه الله دې	بیا مضبوط پاتې شو په هغې
بیشکه کومو خلقو چې	اقرار اوکړو	چې زمونږ رب الله دې	بیا په دې قائم پاتې

(۱) ۴۳/الزخرف:۳۶.
(۲) ۱۷/الاعراف:۲۰۴.
(۳) الطبری:۲۱/۴۶۲.
(۴) الطبری:۲۱/۴۶۲.
(۵) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب خلق آدم وذریته:۳۳۳۵، صحیح مسلم:۱۶۷۷.
(۶) ۱۶/النحل:۸۸.

Scanned with Ca

تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا
نازليږي	په هغوئ باندې	فرښتې	(او ورته وائي) چې مه يريږئ	او غم مه کوئ
شوانو په هغوئ به (درحمت) فرښتې نازليږي	(او وائي به) چې تاسو مه ويريږئ	اومه غمژن کيږئ
وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ
اوخوشحاله شئ	په هغه جنت سره	چې ستاسو سره به ئې وعدې کيدلې	مونږه	ادوستان يو ستاسو
اودجنت زيرې واورئ	دکوم چې تاسو سره وعده کولې شوه	.....مونږ ددنيا
فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ
په ژوند ددنيا کښې	او په آخرت کښې	او دې ستاسو دپاره	په هغې کښې	هغه چې غواړې ئې
په ژوند کښې هم ستاسو ملګرې وو	او په آخرت کښې هم	اوڅه چې مو زړه غواړې هغه به درته
اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ۝ نُزُلًا
نفسونه ستاسو	او دې ستاسو دپاره	په هغې کښې	هغه چې آرزوئې کوئ تاسو	ادا ميلمستيا ده
په جنت کښې موجود وي	اوتاسو دپاره به هغه هرڅه موجود وي	چې تاسو ئې غواړئ
مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ۝ ع
دطرفه دبښونکې	مهربانه الله نه
دادبخښونکې مهربان الله د طرفنه ميلمستيا ده

قوله تعالى:: ثُمَّ اسْتَقَامُوْا

د استقامت معنى اومفهوم:-کوموخلقوچه دالله ﷻ درب کيدويعنى د هغه دتوحيداقراراوکړو بيا په هغې باندې کلك ولاړوو يعنى دالله تعالى دحکم لاندې ئې خپل ژوندتيرکړو.حضور ﷺ د دې آيت تلاوت کولو سره اوفرمائيل ډيرو خلقو د الله تعالى درب کيدو اقرارکړې بيائې کفر اوکړو.کوم چه ترمرګه پورې دا وائى هم هغه دې څوك چه په دې باندې استقامت اوکړى[1] (نسائى وغيره)دابوبکرصديق ﷺ په وړاندې به کله ددې آيت تلاوت کيدلونوهغوى به فرمائيل چه د دې نه مراد دکلمې لوستلو سره بياکله هم د شرك نه کونکى دى.يوروايت کښې دى چه خليفة المسلمين د خلقو نه د دې آيت د تفسير تپوس اوکړو نوهغوى ونيل داستقامت نه مراد ګناه نه کول دى. دابن عباس ﷺ نه تپوس اوکړې شوچه په قرآن پاك کښې دحکم او جزا په لحاظ سره د ټولونه آسان آيت کوم يو دى؟ هغوى د دې آيت تلاوت اوکړوچه د الله ﷻ په توحيد باندې ټول عمر قايم پاتې کيدل.فاروق اعظم ﷺ په منبرباندې ددې آيت تلاوت کولو سره اوفرمائيل والله دا هغه خلق دى چه د الله تعالى په اطاعت باندې کلك ولاړ دى اود لومبړې په تګ باندې نه ځى چه کله اخواکله ديخوا.ابن عباس ﷺ فرمائى دالله ﷻ دفرائضواداکول کوى. قتاده رحمه الله به دادعالوستله ﴿اللهم انت ربنا فارزقنا الاستقامة﴾ اې الله تعالى ته زمونږه رب ئى مونږ له استقامت اوپوخوالې رانصيب کړه.د استقامت نه مراد د دين عمل اوخلوص دې. حضرت ابوالعاليه رحمه الله فرمائى چه يوسړى د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه ماته د اسلام يوداسې کار اوښايه چه بياد بل چا نه د تپوس ضرورت پاتې نه شى. حضور ﷺ اوفرمائيل په ژبه باندې اقرار اوکړه چه ما په الله تعالى باندې ايمان راوړې بيا

---

[1] ترمذى كتاب تفسيرالقرآن باب ومن سورة حم السجدة: ۳۲۵۰ مسندابى يعلى: ۳۴۹۵.

Scanned with Ca

په دې کلك شه. هغه بیاتپوس اوکړو چه ښه ده داخو عمل شو نو بچ کیږم به د څه نه؟ نو حضور ﷺ د ژبې طرف ته اشاره اوفرمائیله. (۱)

قوله تعالی:: اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا

د مرګ په وخت کښې فرښتې مؤمن ته د جنت زیرې اوروی:- هغوی له د هغوی د مرګ په وخت کښې فرښتې راځی اوهغوی ته زیری اوروی چه تاسو د آخرت د منزل طرف ته روان ئی بې ویرې اوسیږه په تاباندې هلته هیڅ غم نشته ته چه خپل شاته کومه دنیاپریږدې په هغې باندې هم هیڅ غم اوخفګان مه کوه.ستادبال بچ ستا دمال ومتاع دین اودیانت حفاظت زمونږپه ذمه دې. مونږ ستا خلیفه ګان یو. مونږ تاته زیرې اوروو چه ته جنتی ئی تاته ربښتونې اوصحیح وعده درکړې شوې وه هغه به پوره کیږی. نو هغوی د خپل مرګ په وخت کښې خوشحالیږی چه د ټولو بدو نه بچ شو اوټولې ښیګړې ورته حاصلې شوې.حدیث کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی د مؤمن روح ته فرښتې وائی ای پاکه روحه چه په پاك بدن کښې وې راخه د الله تعالی دښېنې انعام اونعمت طرف ته راروان شه هغه الله تعالی له چه په تاباندې ناراض نه دې(۲)دا هم روایت دې چه کله مسلمان د خپل قبرنه اوچت شی هم هغه وخت به فرښتې هغه له راځی اوهغه ته به زیری اوروی. حضرت ثابت ﷺ چه به کله د دې سورت په لوستلو سره دې آیت ته راورسیدونواودریدوبه او فرمائیل ئی مونږ ته دا خبرملاوشوې دې چه کله مؤمن بنده دقبر نه اوچتیږی نوهغه دوه فرښتې کومې چه به دنیاکښې ده سره وې هغه له به راشی اوورته به وائی ویریږه مه خفه کیږه مه ته جنتی ئی خوشحاله شه تاسره چه د الله تعالی کومې وعدې وې هغه به پوره کیږی. غرض ویره به په امن سره بدله شی سترګې به ئی یخې شی اوزړه به ئی مطمئن شی د قیامت ټوله ویره ترهه اودهشت به تري لرې شی.دنیک عمل بدله به په خپلو سترګو سره اووینی اوخوشحاله به شی.لنډه دا چه د مرګ په وخت کښې د قبرنه د راپاسیدو په وخت د رحمت ملائکې به هغه سره وی اوهروخت به ورته زیری اوروی. هغوی ته به فرښتې داهم وائی چه په ژوند کښې مونږ ستادوستان اوولیان وو تاته به مو د نیکئی لارخودله دخیرطرف ته به مویوتلې ستا حفاظت به مو کولو هم دغه شان به مونږ په آخرت کښې هم تاسره یو.ستا ویره ترهه به لرې کوو.په قبرکښې حشر کښې دقیامت په میدان کښې په پل صراط باندې غرض په هریوځای کښې به مونږ ستا ملګری اودوستان یو.دنعمتونود جنتونود رسولوپورې به مونږ تانه نه جداکیږو. هلته چه ته څه غواړې تاته به ملاویږی کومه آرزو چه دې وی پوره کیږی به. دا میلمستیا داورکړه دا انعام اوضیافت د هغه الله ﷻ د طرف نه دې چه ښښونکې او مهربانی کونکې دې د هغه لطف اورحم د هغه ښښنه اوکرم ډیر وسیع دې.

قوله تعالی:: وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ

د جنت بازار اود الله تعالی دیدار:- سعیدبن مسیب اوابوهریره ﷺ ملاقات اوشونوابوهریره ﷺ اوفرمائیل الله تعالی دې مونږ دواړه د جنت په بازارکښې یوځای کړی په دې باندې حضرت سعید ﷺ اوفرمائیل چه په جنت کښې به هم بازاروی؟ ونې فرمائیل هاته رسول الله ﷺ خبر راکړې دې چه کله جنتیان جنت ته ځی اود خپلو خپلو مرتبوبرابر درجې ته رسی نود دنیاد اندازې برابر د جمعه په ورځ یوځای کښې د راجمع کیدواجازت به ملاویږی. کله چه ټول راجمع شی نوالله تعالی به په هغوی باندې تجلی اوفرمائی د هغه عرش به ښکاره شی هغوی ټول به د جنت په باغیچه کښې د نور لوء لوء یاقوتو زبرجدو اوسرو سپینوزرو په منبرونوباندې کینی. بعضې نورچه کوم په نیکوکښې د کمې درجې وی خود جنتی کیدو په اعتبارسره هیڅ څوك به د بل نه کمترنه وی هغوی به د مشکو او کافورو په غونډو باندې وی خو په

---

۱) احمد:۴۱۳/۳ وسنده صحیح، دارمی:۲۹۶/۲، ابن حبان:۵۶۹۸.

۲) احمد:۲۸۷/۴وهو حدیث حسن.

Scanned with Ca

خپل ځائ باندې به دومره خوشحاله وې چه د کرسئ والا به د خپل ځان نه په مجلس کښې غوره نه ګڼرې.ابوهريره رضی الله عنه فرمائی چه مادرسول الله ﷺ نه تپوس اوکړوچه آیامونږ به خپل رب وینو؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه اووینئی به.د نیمې ورځ نمر او د ځوارلسمې سپوږمئی چه څنګه صفا وینئی دغه شان به خپل الله تعالی هم وینئی. په دې مجلس کښې به یو یو الله تعالی سره خبرې کوی. تردې پورې چه فرمائی به یاددی فلانکې ورځ باندې تافلانکې خلاف کارکړې ووهغه به وائی چه ولې نه زماربه تاخو راته هغه خطا معاف کړې وه بیا د هغې څنګه ذکر دې؟ وائی به ټیک ده هم د دغه مغفرت په وجه خو ته دې درجې ته رارسیدلې ئې. دوی به په دې حالت کښې وی چه یوه اُوریخ به دوی راپټ کړی اود هغې نه به داسې خوشبوئی راووریږی چه هیڅ کله به هم چا بوئی کړې نه وی. بیا به رب العالمین اوفرمائی پاسئی اومّا چه کوم انعام اواکرام تاسوله تیارکړې دې هغه واخلئی.بیا به دوی یوبازار ته اورسی کوم چه به د هرطرف نه فرښتو راګیرکړې وی هلته به داسې څیزونه وینی چه نه به ئې کتلې وی نه به ئې اوریدلی وی اونه به ئې چرته په خیال کښې تیرشوی وی. کوم سړې چه کوم څیز غواړی اخلی به ئې. هلته به اخستل اوخرڅول نه وی بلکه انعام به وی. هلته به ټول جنتیان یوبل سره ملاقات کوی؟ د یوې کمې درجې جنتی به د اوچتې درجې جنتی سره ملاقات کوی نود هغه لباس وغیره ته چه اوګوری نو په زړه کښې به خیال کوی اوهم هلته به خپل بدن ته په کتوکښې خیال کوی د ده نه د هغه کپړې ډیر ښې دی ځکه چه هلته به چاته هیڅ غم اوخفګان نه وی. بیا به مونږ ټول واپس خپلو خپلو منزلونه لاړ شو.هلته به زمونږ بیبیانې مونږ ته پخیرراغلې وائی اووائی به چه د کوم وخت نه تاسو د دې ځائ نه تلې وئی نوهغه وخت خو دا تازه والې اودا نورانیت نه وو خوولې دې وخت کښې خو ښائست خوبی خوشبوئی نوره هم ډیره زیاته شوې ده. دوی به جواب ورکوی چه اوټیک ده مونږ نن د الله تعالی په مجلس کښې وو اویقینا مونږ ډیر اوچت اوزیات شو. (۱) (ترمذی)

څوک چې دالله تعالی ملاقات غواړی نو الله دهغه ملاقات غواړی: مسنداحمد کښې دی حضور ﷺ فرمائی څوک چه د الله تعالی ملاقات خوښوی الله تعالی به هم هغه سره ملاویدل غواړی او څوک چه د الله تعالی ملاقات خراب ګڼړی الله تعالی هم د هغه ملاقات نه خوښوی.صحابه کرام رضی الله عنهم اووئیل یارسول الله ﷺمونږ خود مرګ نه کرکه کووحضور ﷺ اوفرمائیل دې نه مراد د مرګ نه کرکه نه ده بلکه د مؤمن د زنکدن په وخت کښې د الله تعالی د طرف نه هغه له زیرې راځی دکوم په اوریدو چه هغه له د الله ﷻ د ملاقات نه زیات خوښ بل څیز نه وی نوالله تعالی هم د هغه ملاقات خوښوی. اود فاجر اوکافر د زنکدن په وخت کښې کله چه هغه ته د دې بدئې خبرورکولې شی کومه چه هغه ته اوس رسیدونکې ده نوهغه د الله تعالی د ملاقات نه کرکه کوی نوالله تعالی هم د هغه ملاقات مکروه ګڼړی. (۲) دا حدیث بالکل صحیح دې اود دې ډیر اسناد دی.

وَمَنْ	اَحْسَنُ	قَوْلًا	مِّمَّنْ
او څوک دې	ډیر ښائیسته	په لحاظ دخبرې سره	دهغه چانه
اودهغې بنده نه ښه خبره د چا کیدې شی	چې		

دَعَآ	اِلَى اللّٰهِ	وَعَمِلَ صَالِحًا	وَّقَالَ	اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝
چې رابلی خلق	الله ته	او عمل کوی نیک	اووئې وئیل	چې بیشکه زهٔ دمسلمانانونه یم
دالله ﷻ طرفته بلنه کوی		او نیک عمل کوی	او دا وائی چې زه له تابعدارو څنې یم	

(۱) ترمذی کتاب صفة الجنة باب ماجاء فی سوق الجنة:۲۵۴۹ ابن ماجه:۴۳۳۶، السنة:۷۸۵.
(۲) احمد:۱۰۷/۳وسنده ضعیف ولکنه صحیح بالشواهد صحیح مسلم:۲۶۸۳، احمد:۹۵/۴.

Scanned with Ca

وَلَا تَسْتَوِي	الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ط	اِدْفَعْ	بِالَّتِيْ هِيَ
اونۀ یو شان کیږی	نیکی اونۀ بدئ	دفع کړه (بدی)	په هغه نیکئ سره
او نیکی اوبدی هیڅ کله برابریدي نشي	.....ته په ښه (خوږه) طریقه (دښمن) د ځان نه		
اَحْسَنُ	فَاِذَا	الَّذِيْ بَيْنَكَ	وَبَيْنَهٗ
چې هغه ډیره ښائیسته وی	پس بیا به وی	هغه سړي چې په منځ ستا	او په منځ دهغه کښې
لږي کړه	نوستا اود چا ترمینځه چې دشمنی وی		
عَدَاوَةٌ	كَاَنَّهٗ	وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ۝۳۴	وَمَا يُلَقّٰىهَآ	اِلَّا الَّذِيْنَ
دشمنی وی	اداسې لکه چې هغه	دوست دي	مهربانه	اونۀ نصیب کیږی داصفت	مګر هغه کسانو ته
هغه به داسې (نرم) شی	لکه مهربان دوست	اودا نصیحت دهغه چا نصیب کیږی چې		
صَبَرُوْا ۚ	وَمَا يُلَقّٰىهَآ	اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝۳۵	وَاِمَّا
چې صبر اوکړو هغوئ	اونۀ ورکړي کیږی دا مقام	مګر خاوند دحصې لوئي ته	او که چرې
صبر کولي شی	اودا سبق هغه څوک اخستي شی چې د لوئي نصیب خاوندوو	اوکه چرې	
يَنْزَغَنَّكَ	مِنَ الشَّيْطٰنِ	نَزْغٌ	فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ط	اِنَّهٗ
اورسیږی تاته	دطرفه دشیطان نه	څه وسوسه	نو پناه اوغواړه په الله پوري	بیشکه هغه
ستاپه زړه کښې د شیطان د طرفه څه وسوسه پیدا شی	نو د الله ﷻ نه پناه غواړه	بیشکه هغه		
هُوَ السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ ۝۳۶			
خاص هغه اوریدونکي دي	او ډیر پوهه دي			
هرڅه اوري	په هر څه پوهه دي			

قوله تعالی:: وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ

دټولونه ښه دعوت د چا دي ؟:- فرمائی چه څوك د الله ﷻ بندیګان د الله ﷻ طرف ته رابلی او پخپله هم نیکی کوی اسلام قبول کړی د هغه نه به ډیره ښه خبره د بل چا وی؟ دا دی چاچه خپل ځان ته پخپله نفع اورسوله اودالله ﷻ مخلوق ته ئی هم نفع اورسوله.دادهغوی نه نه دی چه صرف دخلي دخبرو پرانګان دی. نورو ته وائی خوپخپله نه کوی. دوی خو پخپله هم کوی اونوروته هم وائی. دا آیت عام دي. رسول الله ﷺ د ټولونه زیات په دي باندي پوره دي. بعضو وئیلی دی چه د دي مصداق اذان کونکی دی کوم چه نیکان هم دی.

د مؤذن د فضیلت احادیث:: په صحیح مسلم کښې دی د قیامت په ورځ به مؤذن خلق د ټولونه د اوږدو غړانګو والا وی(۱) سنن کښې دی امام ضامن دي اومؤذن امانت دار.الله تعالی دي امامانوته نیغه لار اوښائی اومؤذنان دي اوښښی(۲) ابن ابی حاتم کښې دی چه سعدبن ابی وقاص ؓ فرمائی د آذان کونکو

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب فضل الاذان وهرب الشیطان عند سماعه: ۳۸۷، ابن ماجه: ۷۲۵، احمد:۹۵/٤.

(۲) ابوداؤد کتاب الصلاة باب مایجب علی المؤذن من تعاهدالوقت: ۵۱۷وهوحسن، ترمذی: ۲۰۷، مسند الطیالسی:۲٤۰٤، احمد:٤۱۹/۲، ابن حبان: ۱۶۷۲، مصنف عبدالرزاق: ۱۸۳۹، صحیح ابن ماجه۱۵۳۱.

Scanned with Ca

حصه د قیامت په ورځ د الله ﷻ په نیز په شان د جهاد کونکی د حصې ده. داذان اواقامت په مینځ کښې دا هغه حالت دې لکه څوک چه په جهاد کښې د الله تعالی په لارکښې په خپلو وینوکښې لړپرکیږی. ابن مسعود﷿ فرمائی که چرې زه مؤذن ووم نوبیابه ماته د حج عمرې اوجهاد دومره پرواه نه وه. دحضرت عمر ﷿ نه نقل دی که چرې زه مؤذن ووم نوزما ارمان به پوره شوې وو اوما به د شپې د نفلی مونځونو او د ورځې د نفلی روژو دومره زیات کوشش نه کولو.ما اوریدلی دی چه د الله ﷺ رسول ﷺ دې خل د مؤذنانو باره کښې دبښنې دعاکړې ده. په دې باندې مااووئیل چه حضور ﷺ تاسو مونږ په دعاکښې یادنه کړو سره ددې چه مونږ په اذان کولو باندې توري نیسو.حضور ﷺ اوفرمائیل چه اوخواې عمر ﷿ داسې زمانه هم راتلونکې ده چه مؤذنی به دغریبانانو مسکینانوپورې پاتې شی.واورهعمره﷿ د کومو خلقوغوښه اوپوستکې چه په دوزخ باندې حرام دې په هغوی کښې اذان کونکی هم دی. حضرت عائشه ﷺ فرمائی چه په دې آیت کښې هم دمؤذن تعریف دې. دهغه حی علی الصلوة ونیل د الله تعالی طرف ته رابلل دی. ابن عمر ﷿ اوعکرمه ﷺ فرمانی داآیت د مؤذنانوباره کښې نازل شوې دې. اوداچه کوم نی اوفرمائیل هغوی نیک عمل کوی د دې نه مراد د اذان اوتکبیر په مینځ کښې دوه رکعته مونځ کوی.لکه څنګه چه دحضور ﷺ ارشاد دې د دوو اذانونوپه مینځ کښې مونځ دې د دوو اذانونو په مینځ کښې مونځ دې چه څوک غواړی(۱)په یوحدیث کښې دی چه د اذان اواقامت په مینځ کښې دعاکول نه ردکیږی(۲)صحیح خبره دا ده چه آیت د خپل عموم په لحاظ سره د مؤذن اوغیرمؤذن هرسړی ته شامل دی څوک چه د الله تعالی طرف ته دعوت ورکړی. دا یادساتئی چه د دې آیت د نازلیدو په وخت د سرنه اذان شروع شوې هم نه وو. ځکه چه دا آیت په مکه کښې نازل شوې دې اواذان مدینې ته د رسیدونه پس مقررشوې دې. کله چه عبدالله بن زید بن عبدربه ﷿ په خپل خوب کښې اذان ورکول اوکتل او واوریدلواوحضور ﷺ ته ئی د دې ذکر اوکړو نو حضور ﷺ اوفرمائیل بلال ﷿ ته ئی اوښایه د هغه آواز اوچت دې(۳)نوصحیح خبره دا ده چه دا آیت عام دې په دې کښې اذان کونکی هم شامل دی.

حضرت حسن بصری ﷺ د دې آیت په اوریدوسره فرمائیل هم دغه خلق دی د الله تعالی دوستان، هم دغه دی د الله تعالی ولیان هم دا د الله تعالی د ټولونه زیات خوښ دی اودغه د ټولونه زیات الله تعالی ته گران دی چه هغوی دالله ﷻ خبرې اومنلې اوپخپلومنلوکښې نیکئی اوکړې اودخپل ځان د مسلمان کیدو اعلان ئی اوکړو هم دغه د الله تعالی خلیفه ګان دی. ښیګړه اوبدی نیکی اوبدی برابر برابر نه شی کیدې بلکه په دې کښې ډیر فرق دې. څوک چه تاسره بدی کوی ته هغه سره نیکی کوه اود هغه بدی دغه شان لرې کړه. دحضرت عمر﷿ فرمان دی ستاباره کښې چه کوم سړې د الله تعالی نافرمانی اوکړی نو ته دهغه باره کښې دالله ﷻ فرمانبرداری اوکړه د دې نه زیات هیڅ څیز نشته. الله ﷻ فرمائی چه داسې کولوسره ستاد ځان دښمن هم ستا دوست جوړیږی. په دې وصیت به د هغه نه عمل کیږی چه صبرکونکې وی په نفس باندې اختیارلری اووی هم نصیب والا چه د دین اودنیا بهتری د هغه په تقدیر کښې وی.ابن عباس﷿ فرمائی چه ایماندارونه دالله ﷻ حکم دې چه هغوی دې دغصې په وخت کښې صبرکوی اود بل په جهالت باندې دې د خپل برداشت ثبوت پیش کوی اود نورو بدئی دې معاف کوی. داسې خلق دشیطانی چالونونه په حفاظت کښې وی اودهغوی دښمنان هم بیادهغوی دوستان جوړیږی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التهجد باب الصلاة قبل المغرب: ۱۱۸۳، صحیح مسلم:۸۳۸، ابوداؤد: ۱۲۸۳، ترمذی:۱۸۵، ابن ماجه: ۱۱۶۲، ابن حبان:۱۵۸۹،احمد:۸۶/۴.

(۲) ابوداؤد کتاب الصلاة باب فی الدعاء بین الاذان والاقامة: ۵۲۱وهوصحیح، ترمذی:۲۱۲، عمل الیوم واللیلة للنسائی:۶۸، مصنف عبدالرزاق:۱۹۰۹، ابن ابی شیبه:۲۲۵/۱۰، احمد: ۱۱۹/۳.

(۳) ابوداؤد: ۴۹۹وسنده حسن.

دا خوشوه د انسانی شرنه د بچ کیدو طریقه اوس د شیطانی شر نه د بچ کیدو طریقه بنائی چه د الله تعالی طرف ته تیتیږه اوهم هغه ده ته دا طاقت ورکړي دي چه هغه په زړونوکښې وسوسې پیداکړی اوهم د هغه په اختیارکښې دی چه د هغه د شر نه نی محفوظ اوساتی. نبی کریم ﷺ به په خپل مانځه کښې فرمائیل ﴿اعوذبالله السمیع العلیم من الشیطن الرجیم من همزه ونفخه ونفثه﴾(۱)اول مونږ بیان کړي دي چه د دي مقام په شان مقام صرف په سورت اعراف کښې دي چرته چه ارشاد دي ﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ۝﴾(۲)اود سورت مؤمنون آیت ﴿اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ۭ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَصِفُوْنَ۝﴾(۳)کښې حکم شوی دي چه دمعاف کولوعادت خان کښې واچوئی اوداالله تعالی په پناه کښې راځئی دبدو بدله په نیکوسره ورکوئی. وغیره.

وَمِنْ اٰيٰتِهِ	الَّيْلُ	وَالنَّهَارُ			
او دنښو دهغه نه دی	دا شپه	او ورځ			
او ددۀ (دقدرت په نښو کښې شپه ، ورځ					
وَالشَّمْسُ	وَالْقَمَرُ ۭ	لَا تَسْجُدُوْا	لِلشَّمْسِ	وَلَا لِلْقَمَرِ	وَاسْجُدُوْا
او نمر	او سپوږمئ	سجده مۀ کوئ تاسو	نمر ته	او نۀ سپوږمئ ته	او سجده کوئ
نمر ، او سپوږمئ دی	نو تاسو مه نمر ته سجدې کوئ	او مه سپوږمئ ته	اوصرف		
لِلّٰهِ الَّذِيْ	خَلَقَهُنَّ	اِنْ كُنْتُمْ	اِيَّاهُ	تَعْبُدُوْنَ۝	
هغه الله ته	چې پیدا کړی ئې دی دا	که یئ تاسو	خاص هغه لره	چې عبادت کوئ	
الله ﷻ ته سجدې کوئ اچاچې داتول څیزونه پیدا کړی دی	که تاسو صرف دالله ﷻ عبادت کول غواړئ				
فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا	فَالَّذِيْنَ	عِنْدَ رَبِّكَ	يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ		
پس که چرې لوئي اوکړه دوئ	نو هغه څوک (فرښتي)	چې په نز درب ستا دی	تسبیح وائی هغه لره		
نوکه دوئ تکبر اوکړو	نو کومې (فرښتي) چې ستا درب سره دی	هغه شپه ورځ			
بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ	وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُوْنَ۝	وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ	اَنَّكَ		
په شپه او ورځ کښې	او هغوئ نۀ سترې کیږی	او دنښو دهغه نه داده	چې بیشکه ته		
دده تسبیح وائی	او هیڅرې نه سترې کیږی	اوداالله ﷻ یوه نښه داده	.....چې ته زمکه		
تَرَى الْاَرْضَ	خَاشِعَةً	فَاِذَآ	اَنْزَلْنَا	عَلَيْهَا	الْمَآءَ
وینې زمکه	او دۀ (یعنی وچه)	پس کله چې	نازلې کړې مونږه	په هغې باندې	اوبۀ
اوچه (خشکه) وینې	خو کله چې پرې مونږ اوبه نازلې کړو	نو هغه راپورته شی			

---

۱) ابوداؤد کتاب الصلاة باب من رای الاستفتاح بسبحانك....:۷۷۵وسنده حسن

۲) ۷/الاعراف:۱۹۹.

۳) آیت:۹۶.

Scanned with Ca

اهْتَزَّتْ	وَرَبَتْ ؕ	اِنَّ الَّذِیْۤ	اَحْیَاهَا
نو اوخوزیده (تازه شوه)	اواوپرسیدله	بیشکه هغه ذات	چې ژوندئ نې کړه دا زمکه
اوتازه شی او اوپرسیږی	.....	بیشکه کوم ذات چې زمکه ژوندئ کړه	هغه د مړو
لَمُحْیِ الْمَوْتٰی ؕ	اِنَّهٗ	عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ	قَدِیْرٌ ۝
خامخا ژوندي کونکي دي د مړو	بیشکه هغه	په هر څیز باندې	قادر دي
ژوندی کونکي هم دي	په دې کښې شک نشته چې هغه په هر څه قادر دي		

قوله تعالی:: وَمِنْ اٰیٰتِهِ الَّیْلُ وَالنَّهَارُ

ورځ شپه نمر سپوږمئی هغه جوړ کړی دی:- الله تعالی خپل مخلوق ته خپل عظیم الشان قدرت اوښې مثال طاقت ښائی چه هغه څه کول غواړی نوکوی. نمرسپوږمئی ورځ شپه د هغه د کامل قدرت نښې دی. شپه د هغې دتیارو سره ورځ د هغې درنړاکانوسره هغه جوړکړی دی.څنګه یوبل پسې راځی.نمر او دهغې رنړاته اوسپوږمئی اودهغې پرق ته ګوره اودهغې نورانیت ته اوګوره د هغې هم منزلونه او آسمان مقرردي.دهغوی په راختواوډوبیدوسره دورځې اوشپې فرق دي.دمیاشتواوکالونوشمیر معلومیږی. د کوم نه چه عبادتونومعاملاتو اودحقوقو ادائیګی کیږی.په آسمان اوزمکه کښې دټولو نه زیات ښائسته نمر اوسپوږمئی وو په دې وجه ئی دا په خاص توګه باندې, په خپل مخلوق کښې اوخودل اوئی فرمائیل چه که دالله تعالی بندیګان ئی نودنمراوسپوږمئی په وړاندې تندې مه.لګوه څکه چه دامخلوق دې. مخلوق دسجدې کولوقابل نه وی دسجدې کولو لائق هغه ذات دې چه دټولو خالق دې.تاسودالله تعالی عبادت کوئی خوکه تاسو د هغه نه بغیرد هغه دمخلوق هم عبادت اوکړو نوتاسو به د هغه په نظر کښې پریوځئی اوبیابه هغه کله هم تاسواونه ښې.کوم خلق چه صرف دهغه عبادت نه کوی بلکه د نورو هم عبادت کوی هغوی دې دا نه ګنړی چه د الله تعالی عبادت کونکي هم دوی دی که هغه د دوی عبادت پریږدی نویل څوک به د هغه عبادت کونکي پاتې نه شی. نه نه الله تعالی خود هغوی د عبادتونونه بې پرواه دې. دهغه فرښتې شپه ورځ دهغه په ذکرکښې اودهغه په خالص عبادتونوکښې بې ستومانتیا اوبې سترې کیدوهر وخت مشغول دی. لکه چه په بل آیت کښې دی چه که دوی کفر اوکړی نومونږ یوقوم داسې هم مقررکړې دې چه کفر به نه کوی. حضور ﷺ فرمائی چه شپې ته ورځې ته نمر سپوږمئی ته اوهوا ته بد مه وائې دا څیزونه د بعضې خلقو د پاره رحمت اود بعضو د پاره زحمت وی. (۱)د هغه دومره ښې چه هغه مړی ژوندی کولې شی که کتل غواړئی نود مړې زمکې په باران سره راژوندی کیدل اوګورئی چه هغه اوچه شاړه بې وابنووی. باران وریدوسره فصلونه میوې شینکې وابنه اوګلونه وغیره راتوکیږی. اوهغه په یوعجیبه انداز کښې د خپل شینکی سره خوزیږی. دا راژوندئی کونکې به تاسو هم راژوندی کړی یقین اوکړئی که هغه غواړی نود هغه په قدرت کښې شته.

اِنَّ الَّذِیْنَ	یُلْحِدُوْنَ	فِیْۤ اٰیٰتِنَا	لَا یَخْفَوْنَ	عَلَیْنَا ؕ اَفَمَنْ
بیشکه هغه کسان چې اوړی دحق نه باطل ته	په آیتونوزمونږکښې	انه دی پټ	په مونږ باندې	آیاپس هغه څوک
کوم خلق چې زمونږ په آیتونو کښې کمراهی اختیاروی	اهغوئ زمونږ نه پټ نه دی	انوآیاځوک چې اورته		

(۱) مسند ابی یعلی: ۲۱۹٤ المعجم الاوسط: ٦٧٩١، مجمع الزوائد: ۷۱/۸.

Scanned with Ca

يُلْقٰى	فِي النَّارِ	خَيْرٌ	اَمْ مَّنْ	يَّاْتِيْٓ	اٰمِنًا
چې غورزولې کيږي به اپه وورکښې	اهغه بهتر دې	ايا هغه څوک	اچې راځي به اپه حالت دامن کښې		
اوغورځولې شي	.....هغه ښه شو يا څوک چې دقيامت په ورځ په امن اوامان				
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ	اِعْمَلُوْا	مَا شِئْتُمْ ۙ	اِنَّهٗ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ
په ورځ دقيامت	عمل کوئ	هغه چې غواړئ تاسو	بيشکه هغه	په هغه څه	چې تاسو ئې کوئ
(الله ﷻ ته مخامخ) پيش شي	ستاسو چې څه زړه غواړي هغه کوئ	بيشکه الله تعالى ستاسو د کړو			
بَصِيْرٌ ۝	اِنَّ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِالذِّكْرِ	لَمَّا	
ليدونکې دې	بيشکه هغه کسان	چې انکار ئې اوکړو	ددکر (نصيحت) نه	هر کله چې	
ليدونکې دې	کوم خلق چې ددې قران نه څه وخت چې دوئ ته راغلو				
جَآءَهُمْ ۚ	وَاِنَّهٗ	لَكِتٰبٌ	عَزِيْزٌ ۝ لَّا	يَاْتِيْهِ	الْبَاطِلُ
راغې هغوئ ته	او بيشکه هغه	خامخا کتاب دې	قوى	چې نۀ شي راتلې هغه ته	باطل
انکار اوکړو	(برباد شول) اوداقران ډير دعزت کتاب دې	چې غلطه خبره ورته نه د وړاندې			
مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ	وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ	تَنْزِيْلٌ	مِّنْ حَكِيْمٍ		
دمخکښې طرف ددې نه	اونۀ دروستو طرف ددې نه	نازل کړې شوې دې	دطرفه ډيو حکيم		
نه راتلې شي	اونه د روستو نه	داد حکمت والا او ستائيلى شوې (الله ﷻ) نازل شوې (کتاب) دې			
حَمِيْدٍ ۝	مَا يُقَالُ	لَكَ	اِلَّا مَا	قَدْ قِيْلَ	لِلرُّسُلِ
ستائيلې شوى الله نه	نۀ ونيلې کيږي	تاته	مکر هغه څه	چې ونيلې شوى دى	رسولانوته
.....تاته هم هغه شان خبرې کولې شي	څنګه چې ستانه وړاندې پيغمبرانو ته وئيلې شوې وې				
مِنْ قَبْلِكَ ؕ	اِنَّ رَبَّكَ	لَذُوْ مَغْفِرَةٍ	وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ۝		
مخکښې ستانه	بيشکه رب ستا	خاوند دبښنې دې	او ورکونکې دعذاب دردناک دې		
.....	بيشکه ستارب بښونکې دې	.....او ددردناک عذاب خاوند هم دې			

قوله تعالى:: اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا

ملحدينو ته رټنه او دعذاب نه ويره :-د (الحاد) معنى دابن عباس ﷺ نه دکلام دهغه خائ نه اخواکول او بل خائ کښې کيخودل مراد دى.اود قتاده ﷺ وغيره نه معنى کفر اوعناد دې.فرمائى چه ملحدان خلق زمونږنه پټ نه دى.زمونږ اسماءاوصفات ديوخائ نه بل خائ ته کونکى زمونږ په نظر کښې دى.هغوى ته به مونږ ډيره خرابه سزاورکړو.پوهه شئى چه دوزخ ته حواله کيدونکى اود ټولوخطرونه ښې کيدونکى برابردى؟هيڅ کله نه.بدکارو کافرانوچه څنګه عمل کول غواړئ کوئى زمانه ستاسو هيڅ يوعمل پټ نه دې. دباريك نه باريك څيز هم زما د نظرنه پټ نه دې.د (ذکر) نه مراد د ضحاك سدى اوقتاده ﷺ په نيز قرآن پاك دې هغه په عزت اوپه درناوى دې.ددې په شان د هيڅ چا کلام نشته. ددې نه وړاندې روستو يعنى ديوطرف نه هم دې کښې باطل نه شى ملاويدلې.دادرب العالمين دطرفنه نازل کړې شوې دې.

Scanned with Ca

چه په خپلو اقوالو او افعالو کښې حکیم دي. دهغه ټول حکم احکام د بهترین انجام والادی. تاته چه ستا د زمانې کافران څه وائی هم دغه تانه وړاندې پیغمبرانوته هم د هغوی امتونووئیلی وو نوچه څنګه دي پیغمبرانوصبراوکړوته هم صبرکوه. څوك هم چه ستا درب طرف ته رجوع اوکړی هغه د ده د پاره د ډیرې بښنې والادي اوڅوك چه پخپل کفراوضد باندې کلك وی دحق د مخالفت اود رسول دتکذیب نه نه منع کیږی په هغه باندې الله تعالی ډیر سختې سزاګانې کونکې دي. رسول الله ﷺ فرمائی که دالله تعالی معافئی اوبښنې نه وې نوپه دنیاکښې به یوکس هم ژوندې نه وو پاتې شوې اوکه دهغه رانیول راګیرول عذابونه اوسزاګانې نه وې نوهرسړې به ښه په تسلئی سره ډډه لګولې بې ویرې ناست وو.

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ	قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا	لَّقَالُوْا	
او که جوړ کړې وې مونږه دا کتاب	قران عجمی	نو خامخا به وئیلې دي خلقو	
اوکه مونږ دا قران پاک په عجمی (ژبه کښې) رالیږلې وې	نو دوئ به وئیل چې		
لَوْلَا فُصِّلَتْ	اٰيٰتُهٗ ؕ	ءَاَعْجَمِيٌّ	وَّعَرَبِيٌّ ؕ
ولې واضحه بیان نۀ کړې شو	ایتونه ددۀ	ایا کتاب عجمی دي	او مخاطب عربی دي
ددې ایتونو ولې صفا صفا نه دی بیان شوی	دالا څنګه خبره ده چې (کتاب) عجمی او (پیغمبر) عربی دي		
قُلْ هُوَ	لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا	هُدًى	وَّشِفَآءٌ ؕ
ورته اووایه	دا قرآن	دپاره دهغه کسانو	چې ایمان ئې راوړې دي
هدایت دي	او شفا ده		
ائې نبی ﷺ ته ورته اووایه	چې دا کتاب ایماندارو دپاره هدایت او شفاء ده		
وَالَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	فِيْٓ اٰذَانِهِمْ	وَقْرٌ	وَّهُوَ
او هغه کسان	چې ایمان نۀ راوړې	په غوږونو دهغوئ کښې	درونوالې دي	او دا
اوڅوك چې ایمان نه راوړې	د هغوئ په غوږونو کښې کونړوالې دي	..... او		
عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ	اُولٰٓئِكَ	يُنَادَوْنَ	مِنْ مَّكَانٍۭ	
په هغوئ باندې	پتې ده	دا کسان چې دی	لکه چې اواز کیدې شی دوئ ته	دځائې
قران پاک دهغوئ په حق کښې ړوندوالې دي	داهغه کسان دی چې د ډیرې لرې ځائې نه		
بَعِيْدٍ ۝	وَلَقَدْ اٰتَيْنَا	مُوْسَى الْكِتٰبَ	فَاخْتُلِفَ	فِيْهِ ؕ
لرې نه	او ورکړې وو مونږه	موسی ته کتاب	پس اختلاف اوکړې شو	په هغې کښې
ورته اوازکولې شی	اومونږ موسی علیه السلام ته کتاب ورکړې وو	بیا په هغې کښې هم اختلاف اوکړې شو		
وَلَوْلَا كَلِمَةٌ	سَبَقَتْ	مِنْ رَّبِّكَ	لَقُضِيَ
اوکه نۀ وې خبره	رومبې مقرر شوی	دطرفه درب ستانه	نو خامخا به فیصله شوی وه
اوکه چرې ستا درب د طرفه یوه خبره د وړاندې نه فیصله شوې نه وه	نو ددوئ معامله به		
بَيْنَهُمْ ؕ	وَاِنَّهُمْ	لَفِيْ شَكٍّ	مِّنْهُ	مُرِيْبٍ ۝
په منځ ددوئ کښې	اوبیشکه دوئ	خامخا په شك دی	دطرفه دهغه نه	په شك پریشانه کونکی کښې
خلاصه شوې وه	اودوئ ددې کتاب په حق کښې په شک کښې پریشانه پراته دی		

Scanned with Ca

قوله تعالى:: وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا

د قرآن پاک ژبه عربی ولې ده؟:-دقرآن کریم فصاحت اوبلاغت ددې حکم احکام ددې لفظ اومعنوی فوائد بیانولې شی پدې باندې ایمان نه لرونکوسرکشی ضداودښمنی بیانولې شی.لکه چه بل آیت کښې ارشاد دې ﴿وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ عَلٰى بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ ۝ فَقَرَاَهٗ عَلَيْهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ۝﴾[1] مطلب دادې چه دنه منلوشل بهانې دی نه یوچینګ اونه بل چینګ.که قرآن پاک چرته په عجمی ژبه کښې نازل شوې وو نو بهانې به ئی کولې چه مونږ خو په دې باندې صفاصفا نه پوهیږی. مخاطب چه کله د عربی ژبې دی نو په دوی باندې په غیرعربی ژبه کښې کتاب ولې نازلیږی؟ اوکه څه په عربی کښې وو اوځه په بل ژبه کښې نو بیابه هم د دوی هم دغه اعتراض وو چه د دې څه وجه ده؟دحسن بصری رحمه الله قراءت ﴿ءَاَعْجَمِيٌّ﴾ دې. سعیدبن جبیر رحمه الله هم دغه مطلب بیانوی. د دې نه د هغوی سرکشی معلومیږی. بیاارشاد دې چه دا قرآن پاک د ایماندارو د زړه هدایت اود هغوی دسینو شفا ده.دهغوی ټول شکونه په دې سره ختمیږی. دچاچه په دې باندې ایمان نشته نوهغوی خو په دې باندې پوهیدې نه شی لکه چه څوک کونړوی. اونه د دې د بیان طرف ته د هغوی هدایت وی لکه ړوند. بل آیت کښې دی ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ۝﴾[2] زمونږ نازل کړې شوې داقرآن پاک د ایماندارو د پاره شفا اورحمت دې. اودظالمانو خودې سره نقصان زیاتیږی. ددې مثال داسې دې لکه چه څوک د لرې نه چاته څه وانی چه نه دهغوی غوږونوته صحیح الفاظ اورسی اونه هغوی په صحیح توګه په مطلب باندې پوهیدې شی.لکه چه بل آیت کښې دی ﴿وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً ۭ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝﴾[3] یعنی دکافرانومثال دهغوی په شان دې چه آوازکوی او وازنه بغیربل څه دهغوی په غوږکښې نه پریوځی.کانړه ګونګیان اوړانده دی بیابه څنګه پوهه شی؟ضحاک رحمه الله دامطلب بیان کړې دې چه د قیامت په ورځ به دوی د هغوی په خرابو ناموسره رابللې شی.عمر بن خطاب رضی الله عنه یو مسلمان سره ناست ووچه هغه فیصلې کولې.هغه ناڅاپی لبیک لبیک چغې کړې.هغوی اوفرمائیل تاته څه بنکاری یاتاته څوک آوازکوی؟ هغه ونیل اودسمئدرد اخواغاړې نه څوک رابلل کوی نوهغوی هم دا جمله اولوستله ﴿اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ۝﴾[4] (ابن ابی حاتم)

بیا فرمائی چه مونږ موسی علیه السلام ته کتاب ورکړو خو په دې کښې هم اختلاف اوکړې شو هغه ئی هم دروغ اوګنړلو او په تکلیف ئی کړو.نوچه څنګه هغه صبراوکړو دغه شان تاته هم صبرکول پکاردی. ستا رب د دې د اول نه فیصله کړې ده چه د یومقرروخت پورې یعنی د قیامته پورې به عذاب اخواوی. د دې دپاره چه دامهلت ماورکړې دی ګنی دهغوی کړه داسې نه ووچه پریخودې شوې وې اوخوراک څښاک دې کولې چه هم اوس هلاک کړې شوې وې. دوی پخپل تکذیب کښې هم په څه یقین باندې نه دی بلکه په شک کښې پراته دی اوګډوډ کیږی. والله اعلم.

مَنْ عَمِلَ	صَالِحًا	فَلِنَفْسِهٖ ۚ	وَمَنْ اَسَآءَ	
چاچې عمل اوکړو	نیک	پس وې کړه دپاره دخان خپل	او چاچې بدعملی اوکړه	
چاچې نیک عمل اوکړو	نو فائده هم هغه ته ملاویږی	.....	اوچاچې ګناه اوکړه	

---

[1]) ٢٦/الشعراء: ١٩٨-١٩٩.
[2]) ١٧/الاسراء: ٨٢.
[3]) ٢/البقرة: ١٧١.
[4]) ٤١/حم السجدة: ٤٤.

Scanned with Ca

فَعَلَيْهَا ؕ	وَمَا رَبُّكَ	بِظَلَّامٍ	لِّلْعَبِيْدِ ۝
نو سزا ئې په هغه باندې ده	اونه دې رب ستا	ظلم کونکې	بندګانو لره
نقصان ئې هم هغه ته رسیږی	او ستارب په خپلو بندګانو زیاتې کونکې نه دې		

کافر ته د خپل عمل بدله او مسلمان ته دخپل عمل بدله: د دې آیت مطلب دیرښکاره دې د نیکو کونکو اعمالوفائده هم هغوی ته وی اود بدئی کونکی د بدئی نقصان هم د هغه طرف ته ورګرځی. د پروردګار ذات د ظلم نه پاک دې. د یوپه ګناه باندې هغه بل نه رانیسی. د نه کړې شوې ګناه سزا هغه نه ورکوی. اول خپل رسول لیګی بیا کتاب نازلوی خپل حجت ختموی خپلې خبرې وورسوی نو چه اوس هم څوک اونه منی نوهغه د عذاب اوسزا مستحق دې.

﴿الحمدلله﴾ د څلیریشتمې سپارې تفسیر ختم شو.

Scanned with Ca

اِلَيْهِ	يُرَدُّ	عِلْمُ السَّاعَةِ ؕ	وَمَا تَخْرُجُ	مِنْ ثَمَرٰتٍ
خاص هغه ته	واپس کړي کيږي	علم دقيامت	اونۀ	رااوځئ
دميوو نه				
دقيامت علم صرف الله ﷻ سره خاص دي (بل چاته د دي علم نشته)	او کومه ميوه چې			
مِّنْ اَكْمَامِهَا	وَمَا تَحْمِلُ	مِنْ اُنْثٰى	وَلَا تَضَعُ	اِلَّا
دغلا فونو(قوڅلو)خپلو ته	اونۀ حامله کيږي	يوه ښځه	اونۀ زيږوي يو بچي	مګر
دخپلو غلافونو نه راوځي	يا کومه يوه ښځه چې حامله کيږي	يا بچي راوړي	نودا ټول	
بِعِلْمِهٖ ؕ	وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ	اَيْنَ	شُرَكَآءِيْ ۙ	
په علم دهغه کښې دي	او په کومه ورځ چې آواز اوکړي دوئ ته	چې کوم ځائې دي	شريکان زما	
هغه ته معلوم دي	اوپه کومه ورځ چې به الله ﷻ دوی ته آواز اوکړي	چې زما شريکان څه شول؟		
قَالُوْٓا	اٰذَنّٰكَ ۙ	مَا مِنَّا	مِنْ شَهِيْدٍ ۚ	
اوبه وائي دوئ	خبر درکړو مونږ تاته اوس	چې نشته زمونږ نه	هيڅوک ګواه ددې خبرې	
هغوی به اووائي چې مونږ تاته خبر درکوو	چې په مونږ کښې هيڅ څوک د دې ګواه نشته ؟؟			
وَضَلَّ	عَنْهُمْ	مَّا	كَانُوْا	يَدْعُوْنَ	مِنْ قَبْلُ
او ورک به شي	ددوئ نه	هغه ټول	چې ووئ دوئ	چې رابلل به دوئ	مخکښې ددې نه
اودوی چې به وراندې دکومو معبودانو عبادت کولو هغه ټول به تري ورک شي					
وَظَنُّوْا	مَا لَهُمْ	مِّنْ مَّحِيْصٍ ۝			
او پوهه به شي	چې نشته دوئ لره	ځائې دتيښتې			
اوپوهه به شي چې اوس د خلاصي هيڅ لار نشته					

قوله تعالى::اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ؕ

د قيامت او د هر څيز علم الله ﷻ سره دي: الله رب العزت فرمائي چه قيامت به کله راځي؟ ددې علم د هغه نه سوا بل چا ته نشته دټولو انسانانو سردار حضرت محمد مصطفى ﷺ نه د فرشتو په سردارانو کښې يو سردار حضرت جبرائيل ﷺ د قيامت د راتلو په باره کښې تپوس اوکړو نو نبي ﷺ اوفرمائيل چه دچا نه تپوس کولې شي هغه ته هم د تپوس کولو والا نه زيات نه دي معلوم (۱) د قرآن کريم يو بل آيت کښې دي ﴿اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا ؕ﴾ يعنى قيامت به کله راځي؟ددې د علم دارومدار هم ستاد رب طرف ته دي دغه شان الله ﷻ يو بل ځائې فرمائي ﴿اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى﴾ مطلب هم دا دي چه د قيامت وخت الله ﷻ نه سوا بل څوک نه پيژني بيا فرمائي چه هر څيز دالله علم په احاطه کښې اخستې دي تردې پورې چه کومه ميوه د غوټو نه راوځي کومې ښځې ته به حمل وي کوم بچې به ددې نه وي دا ټول د هغه په علم کښې دي د زمکې او د اسمان يوه ذره هم د هغه د علم د وسعت نه باهر نه ده . بل آيت کښې دي ﴿لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ﴾ هر ماده ښځې ته چه کوم حمل وي او رحم چه کوم کمې زياتې کوي الله ﷻ ته ډير ښه معلوم دي .هغه سره د هر څيز اندازه ده عمرونه چه کميږي او زياتيږي هغه هم په کتاب کښې ليکلې

(۱) صحيح بخارى كتاب الايمان باب سوال جبريل النبى ﷺ عن الايمان والاسلام : ۵۰ ، صحيح مسلم: ۹.

Scanned with Ca

شوی دی داسې هیڅ نشته چه الله ﷻ باندې مشکل وی . د قیامت په ورځ به مشرکانو نه د ټول خلقو په مخکښې الله ﷻ سوال کوی چه څوک تاسو ماسره په عبادت کښې شریک کول هغه نن چرته دی؟هغوی به جواب ورکوی چه مونږ خو تاسو ته اوخودله چه نن مونږ کښې به څوک هم ددې اقرار نه کوی چه څوک ستا شریک هم شته . نن ددوی ټول باطل خدایان ورک شوی دی څوک به هم په نظر نه راځی چه دوی ته فائده اورسوی او دوی پخپله پوهه شی چه نن د الله د عذاب نه د خلاصی هیڅ صورت نشته .دلته ظن د یقین په معنی کښې دې.

د قرآن کریم یو بل آیت کښې دا مضمون دا شان بیان شوې دې ﴿وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا﴾ دانسان مایوسی او طمع . الله ﷻ بیان فرمائی چه مال صحت وغیره د خیر دعاګانو نه خو سړې نه سترې کیږی او که چرې په ده باندې څه مصیبت راشی یا د لوړې څه موقعه راشی نو دومره زیات پریشانه او مایوسه شی چه اړو خیر به بیا مومی نه.او که چرې څه تنګئی یا سختې نه پس ده ته څه راحت ملاو شی نو دا وائی چه دا خو الله ﷻ باندې زما حق وو زه هم ددې قابل وم .اوس په دې نعمت خوشالیږی الله رب العزت هیروی او صفا منکر جوړ شی د قیامت د راتلو صفا انکار کوی مال او دولت آرام او راحت دده د کفر سبب جوړ شی.

لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ	
نۀ سترې کیږی	انسان
.... انسان د خیر په دعا غوښتلو نه	
مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ ز وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَـُٔوْسٌ قَنُوْطٌ ۝	
دغوښتلو دخیر نه او که اورسیږی هغه ته مصیبت نو هغه نا امیده وی دیر نا امیده	
سترې کیږی|او که چرې څه تکلیف ورته اورسی نوبیا مایوسه او ناامیده شی	
وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ	
اوکه اوخکوؤمونږ هغه ته رحمت دطرفه زمونږ نه اروستودهغې سختې نه اچی رسیدلی وی هغه ته	
اوکه چرته مونږ پرې د خپل رحمت نه څه اوکړو د یو داسې مصیبت نه پس چې رسیدلې وورته نو	
لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ ۙ وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ	
نو خامخا اوبه وائی دا لائق دې مالره اونۀ کوم زۀ ګمان په قیامت اچی رابه شی او که	
بیا وائی چې داخو زما خپل کمال وو اوزۀ دا نه ګڼرم چې قیامت راتلونکې دې اوکه چرته زۀ	
رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ	
واپس کړې شوم زۀ رب خپل ته بیشکه مالره دی دهغه سره خامخا ښې مزې	
هلو الله ﷻ ته واپس کړې شم..... نو هلته به هم زما ښه حالت وی	
فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا ز	
پس خامخابه خبر ورکوؤ مونږه اهغه کسانو ته اچی کفر ئې کړې دی اپه هغه عمل چی کړې دی هغوئ	
مونږ به کافرانو ته دهغوئ د هر یو عمل خبر ورکړو (چې تاسو په دنیا کښې دا دا کارونه کړی وو)	

وَلَنُذِيقَنَّهُمْ	مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿۵۰﴾	وَإِذَآ	أَنْعَمْنَا
اوخامخا به مونږ څکوو هغوئ ته	دعذاب ګنده نه	او کله چې	انعمت اوکړومونږه
اودسخت عذاب مزه ورباندې اوڅکوو	.....	اوکله چې مونږ په یو	انسان باندې
عَلَى الْإِنسَانِ	أَعْرَضَ	وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِۦ	وَإِذَا مَسَّهُ
په انسان باندې	نو مخ واړوو هغه	او لرې ئې کړو اړخ خپل	او کله چې	اورسی هغه ته
نعمتونه اوکړو	.نودې مخ واړوی	او ډډه اوکړی	.....اوڅه وخت چې (لږ ډیر) تکلیف
الشَّرُّ	فَذُو	دُعَآءٍ	عَرِيضٍ ﴿۵۱﴾
تکلیف	نو دې خاوند	ددعا	اوږدې وی
ورته اورسیږی	نوبیا دې اوږدې دعاګانې کونکې وی		

قوله تعالی:: لَّا يَسْـَٔمُ الْإِنسَانُ مِن دُعَآءِ الْخَيْرِ

دانسان خودغرضی:- څنګه چه یو بل آیت کښې دی ﴿كَلَّآ إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰٓ ۝ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰٓ ۝﴾ بیا فرمائی چه په دې هم بس نه بلکه دې بدعملونو باندې د خیر امید هم ساتی او وائی که چرې قیامت هم راغللو او څه هلته اودرولې شوم نو چه څنګه دلته په آرام سره یم هلته به هم په آرام سره یم غرض د قیامت انکار هم کوی د مرګ نه پس ژوند هم نه منی او بیا غټ غټ امیدونه هم ساتی او وائی چه څنګه دلته یم دغه شان به هلته هم یم.بیا دې خلقو لره یروی چه د چا دا اعمال او عقیدې وی هغوی ته به مونږ سخته سزا ورکوو. بیا فرمائی چه انسان هر کله د الله نعمتونه بیا مومی نو اطاعت پریږدی او د منلو نه انکار کوی څنګه یئ چه اوفرمایئل ﴿فَتَوَلَّىٰ بِرُكْنِهِۦ﴾ اوهرکله چه ده ته څه نقصان اورسی نو لوې لوې دعاګانې غواړی .عریض کلام هغه وی چه الفاظ ئی ډیر وی او معنی ئی ډیره کمه وی او چه کوم کلام ددې خلاف وی یعنی الفاظ ئی کم وی اومعنی ډیرې نو هغې ته وجیز کلام وائی هغه ډیر کم او بنه کافی وی.هم دامضمون یو بل ځائې داسې بیان کړې شوې دې ﴿وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ﴾ هر کله چه انسان ته څه مصیبت اورسی نو په ملاسته ناسته او په ولاړه غرض هر وخت مونږ نه دعاګانې غواړی اوهر کله چه هغه تکلیف مونږ لرې کړو نو داسې بې پرواه شی چه ده اډو د مصیبت په وخت کښې مونږ نه دعا غوستې نه وی.

قُلْ	أَرَءَيْتُمْ					
	ورته اووایه	ایا کتل کړی دی تاسو په سوچ سره				
	(ائې نبی ﷺ ته ورته اووایه چې په دې					
إِن كَانَ	مِنْ عِندِ اللَّهِ	ثُمَّ كَفَرْتُم	بِهِۦ	مَنْ أَضَلُّ		
که وی (دا قران)	ادطرفه دالله نه	بیا	انکار اوکړئ تاسو	په هغې سره	اڅوك به وی ډیر بې لارې	
مې پوهه کړئ که داکتاب دالله ﷻ دطرفه راغلې وی	اوتاسو ترې نه انکار اوکړئ	انودهغه سړی نه غټ				
مِمَّنْ	هُوَ فِى شِقَاقٍۭ	بَعِيدٍ ﴿۵۲﴾	سَنُرِيهِمْ	ءَايَٰتِنَا		
دهغه چانه	چې هغه په مخالفت	لرې کښې وی	زر به مونږ اوښایو دوئ ته	نښې خپلې		
ګمراه به څوک وی	چې دومره لرې مخالفت کښې پروت وی	مونږ به دوئ ته په چارچاپیر کښې				

Scanned with Ca

فِي الْاٰفَاقِ	وَفِيْٓ اَنْفُسِهِمْ	حَتّٰى	يَتَبَيَّنَ	لَهُمْ
په خواوشا دنیا کښې	او په نفسونو ددوي کښې	تر دې پورې	چې ښکاره شي	دوئ ته
خپلې ننبې اوښایو	او ددوئ په خپل ذات کښې به ورته هم اوښایو	تردې چې دابه ورته ثابته شي		
اَنَّهُ	الْحَقُّ ؕ	اَوَلَمْ يَكْفِ	بِرَبِّكَ	اَنَّهٗ
چې بیشکه دا قرآن	حق دي	آیا کافي نه ده	رب ستالره دا خبره	چې بیشکه هغه
چې داکتاب حق دي	آیا ستا د رب دا خبره کافي نه ده	چې هغه پخپله په هر څیز		
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	شَهِيْدٌ ۝	اَلَآ	اِنَّهُمْ	فِيْ مِرْيَةٍ	مِّنْ لِّقَآءِ
په هر څیز باندې	شاهد (لیدونکې) دي	خبردار	بیشکه دوئ	په شک کښې دي	دملاقات
باندې ګواه دي	.....یاد ساته چې داخلق خپل رب ته دمخامخ کیدو په حق کښې				
رَبِّهِمْ ؕ	اَلَآ	اِنَّهٗ	بِكُلِّ شَيْءٍ	مُّحِيْطٌ ۝
درب خپل نه	خبردار	بیشکه هغه	په هر څیز باندې	چاپیره دي
په شک کښې پراته دي	(خو) یاد ساته چې هغه دهرڅیز نه راچاپیره دي			

قوله تعالی::قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

د قرآن د حقانیت نه انکار :- الله ﷻ خپل نبی ته فرمائی چه قرآن دروغژن ګنړلو والا مشرکانو ته اووایه چه دا اومني که دا قرآن په ربښتیا هم د الله ﷻ د طرف نه وی او تاسو دا دروغ ګنړي نو د الله ﷻ مخکښې به ستاسو څه حال وی؟ددې نه لوی ګمراه به بل څوك وی چه دخپل کفر اومخالفت په وجه د حق اود هدایت لاري نه ډیر لرې غورزیدلې وی.

قوله تعالی::سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ

ددې ایت مبارک نه څوك مراد دی؟::بیاالله رب العزت فرمائی چه د قرآن کریم د حقانیت ننبې اودلیلونه به دوی ته ددنیا په څلور وانړه طرف ته اوښائی مسلمانانو ته به فتوحات اوشی هغوی به د ملکونو بادشاهان جوړشی تولو دینونو باندے به د دین اسلام غلبه وی .د فتح بدر اوفتح مکه ننبې به هم دوی په خانونو کښې وی چه دا خلق به په تعداد او شان وشوکت کښې ډیر زیات وی بیا به هم یو موتې اهل حق دوی ته ماتې ورکړی.او کیدې شی دا مطلب وی چه د حکمت الهی زرګونو ننبې پخپله د انسان په خپل وجود کښې موجود دی ددې بناوټ ددې جوړښت او طبیعت ددې بیل بیل اخلاق او مختلف صورتونه اورنګونه وغیره ددې خالق او صانع بهترین یادګارونه هروخت ددوی مخښې ته دی بلکه د دوی په ذات کښې موجود دی .ددې بدلیدل را بدلیدل کله ورکوالې کله خوانی کله بوډاتوب کله بیماری کله تندرستی کله غم کله خوشالی وغیره دا ټول اوصاف چه ده باندې راځی.

شیخ ابو جعفر قرشی هم خپلو اشعارو کښې هم دا مضمون ادا کړې دې .غرض د قدرت دننبې چه څه باهراوڅه دننه دی دومره زیاتې دی چه انسان د الله خبرې حق مثلو باندې مجبوره شی .هم د الله ﷻ ګواهی بس ده او ښه کافی ده هغه د خپل بندګانو د اقوالو او افعالو نه ښه خبرداره دې هر کله چه هغه فرمائی چه پیغمبررشتونې دې بیا تاسو ته څه اوشو لکه څنګه چه ارشاد دې ﴿لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ﴾ خو الله ﷻ ددې کتاب په ذریعه کوم چه ئې تا ته درلیږلې د ې او خپل علم سره ئې نازل کړې دې پخپله ددې ګواهی ورکوی او فرښتے ددې تصدیق کوی او د الله ﷻ ګواهی کافی ده .بیا

Scanned with Ca

فرمائی چه اصل کښې دې خلقو ته د قیامت د قائمیدو هډو یقین نشته ددې وجې بې فکره دی نیکو نه غافله دی د غلط کارونو نه خان نه ساتی حالانکه د قیامت راتلل یقینی دی.

ابن ابی دنیا کښې دی چه خلیفة المسلمین حضرت عمر بن عبد العزیز په ممبر باندې اوختلو او د الله ﷻ حمد و ثنا نه پس یې اوفرمائیل چه اې خلقو ما تاسوځه نوې خبرې د پاره نه یې جمع کړې صرف د دې دپاره مې جمع کړې یې چه تاسو ته دا واوروم چه د قیامت د ورځ په باره کښې ما ښه غوراوکړو او ځه په دې نتیجې باندې اورسیدم چه دا رشتیا ګنړلو والا احمق دې او دا دروغ ګنړلو والا هلاک کیدو والا دې بیا هغوی د ممبر نه راکوز شو. دهغوی ددې وینا چه قیامت رشتیا ګنړلو والا احمق دې ددې دا مطلب دې چه رشتیا یې ګنړې بیا هم تیاری نه کوی او ددې زړه درزولو والا هیبتناک حالاتو نه غافل دې چه ددې نه یریدو په وجه هغه اعمال نه کوی چه ده ته ددې د ورځې نه امن ورکړی. بیا ځان ته ددې رشتیا ګنړلو والا هم وائی او لوبو ټوقو ګناه شهوت او حماقت کښې اخته دې او قیامت ته نزدې ورروان دې. والله اعلم.

بیا رب العالمین خپل قدرت کامله بیان فرمائی چه هر څیز د هغه په احاطه کښې دې د قیامت راوستل هغه ته ډیراسان دی ټول مخلوق د هغه په قبضه کښې دې چه څه غواړی هغه کوی څوک هم دهغه لاس رانیوې نشی. څه چه هغه اوغوستل هغه اوشو څه چه به غواړی هغه به کیږی. دهغه نه سوا حقیقی حاکم هیڅ څوک نشته او نه د هغه نه سوا بل ذات د عبادت لائق شته دې.

آیاتونه		سورة الشوری ومکیة وهی ثلاث وخمسون اٰیة وخمس رکوعات		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۵۳		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		۷

حٰمٓ ① عٓسٓقٓ ② كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ

ح . م | ع . س . ق | همدارنګې | وحی کوی | تاته | او هغه رسولانو ته | چې مخکښې ستا نه وو

ح م ع س ق ، دغه شان تاته او ستا نه وړاندې پیغمبرانو ته هغه الله ﷻ چې غالب

اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ③ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

الله | چې غالب دې | چې دحکمت خاوند دې | هغه لره دی | هغه څه | چې په آسمانونو کښې دی |

دحکمتونو خاوند دې وحی کړې ده | په زمکه او آسمانونو کښې چه هرڅه دی ټول هرڅه د هغه

وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ④ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

او هغه څه | چې په زمکه کښې دی | او هغه | اوچت دې او لوی دې | نزدې ده | چې آسمانونه

ملکیت دې | ..... او هغه ډیر اوچت اوډیر لوئې دې | نزدې ده چې آسمانونه پورته نه

يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰۗىِٕكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

اوشلیږی | دپاسه دهغوی | او فرښتې | تسبیح وائی | دحمد درب خپل سره |

اوشلیږی | او فرښتې دخپل رب تسبیح دحمد سره وائی

وَيَسْتَغْفِرُوْنَ	لِمَنْ	فِي الْاَرْضِ ط	اَلَآ	اِنَّ اللّٰهَ
او بښنه غواړي	دپاره دهغه چا	چې په زمکه کښې دی	خبردار شه	بیشکه الله
اوځوک (مومنان) چې په زمکه کښې دی د هغوی دپاره بښنه غواړي			یادساته چې الله ﷻ	
هُوَ الْغَفُوْرُ	الرَّحِيْمُ ۝	وَالَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِهٖٓ
خاص هم هغه بښونکي	مهربانه دي	او هغه کسان	چې نیولی دی هغوئ	بې دالله نه
بښنونکي او رحم کونکئ دي	.....	اوچا چې دالله ﷻ نه سوا د ځان دپاره نور		
اَوْلِيَآءَ	اللّٰهُ	حَفِيْظٌ	عَلَيْهِمْ ۭ	وَمَآ اَنْتَ	عَلَيْهِمْ
نور دوستان	الله	نظر ساتونکي دي	په هغوئ باندې	اونه ئې ته	په هغوئ باندې
کارسازان نیولی دی	....	الله ﷻ هغوئ وینې ګوری	.....	اوته د هغوئ ذمه وار	
بِوَكِيْلٍ ۝					
مقرر کړې شوې حوالدار					
نه یې					

قوله تعالی::حٰمٓ ۝ عٓسٓقٓ ۝

دحروف مقطعات بحث او د (حٰمٓ ۝ عٓسٓقٓ ۝) متعلق عجیبه روایت:- د حروف مقطعات بحث مخکښې تیر شوې دي.ابن جریردلته یو عجیبه اثر وارد کړې دي په هغې کښې دی چه یوکس ابن عباس له راغلو دغه وخت هغوی سره حضرت حذیفه بن یمان هم وو هغه ددې حروفو تفسیر د هغوی نه تپوس اوکړو هغوی لږ شان سر لاندې کړو بیا یې مخ واړو . دې کس په دویم ځل هم دغه سوال اوکړو هغوی تري بیا مخ واړو او دهغه سوال یې بد اوګنړلو .هغه بیا په دریم ځل تپوس اوکړو هغوی بیا هم څه جواب ورنکړو.دې باندې حضرت حذیفه اوونیل څه تا ته وایم او ما ته دا هم معلومه ده چه حضرت ابن عباس د دې باره کښې سوال کول ولې نا خوښوی ددوی په اهل بیت کښې یو کس باره کښې دا نازل شوی دی چه هغه ته به عبدالا له او عبدالله وئیلے شی .هغه به د نمر خاته نهرونو کښې یو نهر سره راکوزیږی اوهلته به دوه بناروند ابادوی.نهر به کټ کړی او دوانړو بناروتو ته به یې بوزی.هرکله چه الله ﷻ ددوی ملك او ددوی دولت د ختمولو اراده اوکړی اود هغې وخت ختمیدو والا وی نو دوانړو بناروتو کښې به په یو بنار باندې به د شپې اور راشی چه هغه به اوسوزوی او ایره به یې کړی .د هغه ځائې خلق به یې سرکشه چه صباداووینی نو حیران به شی داسې به معلومیږی چه دلته اډو څه وو نه سحر سحر به هلته او متکبره خلق را جمع شی او هم دغه وخت به الله ﷻ دا ټول سره دهغه بناره تباه او برباد کړی همدا معنی ده د حم یعنی د الله د طرف نه دا فتنه فیصله شوې ده .دعین نه مراد عدل دې د سین نه مراد سیکون یعنی دا به ډیر زر کیږی د ق نه مراد واقع کیدل .دې دوانړو بناروتو کښې ددې نه هم زیات عجیبه یو بل روایت د مسند حافظ ابو یعلی په دویم جلد کښې مسند ابن عباس کښې دی چه مرفوع هم دې خو ددې سند بالکل ضعیف دې او منقطع هم دې په هغې کښې دی چه حضرت عمر بن خطاب ممبر باندې اوختو او د خلقو نه یې تپوس اوکړو چه تاسو کښې چا ددې حروف تفسیر د حضور ﷺ نه اوریدلې دې .حضرت ابن عباس زر اودریدو او وې فرمائیل او ما اوریدلې دې حم د الله ﷻ په نومونو کښې یو نوم دې د عین نه مراد عاین الی بدردې د سین نه مراد ﴿وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ۝﴾

دي د ق نه مراد څه مراد دي دا هغوی اونه وئیلے شو نو حضرت ابو ذر اودریدو او د حضرت ابن عباس د تفسیر مطابق یې تفسیر اوکړو او وې فرمائیل د ق نه مراد د اسمان قارعه ده چه ټول خلق به راګیروی.ترجمه دا شوه چه د بدر په ورځ تختیدونکو کافرانو د عذاب مزه اوڅکله دي ظالمانو ته به ډیرزرمعلوم شی چه ددوی به څومره خراب انجام وی ؟دوی باندې به اسمانی عذاب راشی چه دوی به تباه او برباد کړی .

بیا فرمائی چه ای نبی څنګه چه تاسو باندې ددې قرآن وحی نازل شوې ده دغه تاسو نه مخکښې نورو پیغمبرانو باندې کتابونه او صحیفې نازل شوې دی دا ټول دهغه الله ﷻ د طرف نه نازل شوې دی چه خپل انتقام اخستو کښې غالب او زبردست دې چه خپل افعالو او اقوالو کښې حکمت والا دې .

قوله تعالی::كَذٰلِكَ يُوْحِيْۤ اِلَيْكَ

په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې وحی کیفیت:: حارث بن هشام درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه تاسویاندې وحی څنګه نازلیږی ؟رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه کله خو دجرس د مسلسل آواز په شان چه ما باندې ډیر درون وی کله چه هغه ختم شی نو ما ته چه څه وئیلې شوې وی هغه ټول یاد شی اوکله فرښته د انسان په صورت کښې ما له راشی ماسره خبرې کوی اوهغه چه څه وائی خه هغه یاد اوساتم.حضرت صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه سخت د ژمی په ورځو کښې هم کله چه نبی ﷺ باندې به وحی راتلله نود وحی د سختئ دوجې به نبی ﷺ به اوبه اوبه شو تردې پورې چه د تندی نه به یې دخولو قطرې راسځیدلې(۱)(بخاری ومسلم)د مسند احمد په حدیث کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه دحضور ﷺ نه د وحی د کیفیت تپوس اوکړو نو نبی ﷺ اوفرمائیل د زنځیر دآواز په شان یو آواز اورم بیا زه هغې ته غوږ کیږدم په دې وحی کښې ما باندې دومره سختی وی چه هر ځل ما ته د روح د وتلو ګمان وی( )

قوله تعالی::لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

د الله تعالی د عظمت دشان بیان:بیا فرمائی چه د زمکې اود اسمان ټول مخلوق دهغه غلام دي دهغه ملکیت دي دهغه د دباو د لاندې او دهغه وړاندې عاجزاومجبور دي هغه ډیراوچت او عظمت والا ذات دي هغه بلند او برتر دي د هغه د عظمت او د جلال دا حال دي چه نزدې ده چه اسمان اوشلیږی فرښتې دهغه دعظمت نه ږیږی اودهغه پاکی او حمد بیانوی او زمکې والو دپاره مغفرت غواړی لکه څنګه چه بل ځائې ارشاد دي ﴿اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ﴾ یعنی حاملان عرش او د عرش نزدې نورې فرشتې دخپل رب تسبیح او حمد بیانوی او په هغه باندې ایمان ساتی او ایمان والو دپاره استغفار کوی چه ای زمونږه ربه تا د خپل رحمت او علم سره د هر څیز احاطه کړې ده ته هغوی اوبخښې چا چه توبه ویستې ده او ستا د لارې تابع دی هغوی د دوزخ د عذاب نه هم اوساتې . بیا یې اوفرمائیل چه پوهه شې چه الله غفور او رحیم دي .بیا یې اوفرمائیل چه دمشرکانو د عملونو نګرانی خه پخپله کوم خه به پخپله هغوی له پورا پورا بدله ورکومه ستا کار هغوی صرف خبرول دی ته څه په هغوی باندې داروغه نه یې.

وَكَذٰلِكَ	اَوْحَيْنَاۤ	اِلَيْكَ	قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا
او همدارنګې	وحی کړې دي مونږ	تاته	دا قرآن په عربی ژبه کښې
اودغه شان مونږ تاته دا قران پاک په عربی ژبه کښې نازل کړې دي			

---

[1]) صحیح مسلم کتاب بدء الوحی باب کیف بدء الوحی الی رسول الله ﷺ : ۲، صحیح مسلم : ۳۳۳۳، موطا: ۲۰۲/۱.
[2]) احمد: ۲۲۲/۲،.

Scanned with Ca

لِّتُنْذِرَ	أُمَّ الْقُرٰى	وَمَنْ	حَوْلَهَا	وَتُنْذِرَ
د پاره ددې چې اویروې	مرکز د کلو (مکه)	او هغه څوک	چې چاپیره دهغې نه دی	او اویروې خلق
چې ته د کلو د اصل (مکې مکرمې) اوددې ګیرچاپیره خلق اوویروې				اود قیامت
يَوْمَ الْجَمْعِ	لَا رَيْبَ	فِيهِ ط	فَرِيقٌ	فِي الْجَنَّةِ	وَفَرِيقٌ
د ورځ دجمع کیدونه	چې نشته شك	په هغې کښې	یوه ډله به	په جنت کښې وی	او بله ډله به
د ورځې نه ئې اوویروې	چې دهغې په راتلو کښې هیڅ شک نشته		ایوډله به په جنت کښې	او بله ډله به
فِي السَّعِيرِ ۝٧	وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ	لَجَعَلَهُمْ	أُمَّةً وَّاحِدَةً	وَّلٰكِنْ
په دوزخ کښې وی	اوکه غوښتلې الله	نو جوړ کړی به ئې وې دوئ	ډله یوه	ولیکن
په دوزخ کښې وی	اوکه الله ﷻ ته منظوره وې نودوئ ټول به ئې (په زور) په یو لاره روان کړی وو			
يُدْخِلُ	مَنْ	يَّشَاءُ	فِي رَحْمَتِهِ ط	وَالظّٰلِمُونَ
هغه دا خلوی	هغه څوک	چې غواړی ئې هغه	په رحمت خپل کښې	او ظالمان چې دی
خوهغه چې د چا په حق کښې اوغواړی		نو دخپل رحمت (دسیوری) لاندې ئې راولی		اود ظالمانو
مَا لَهُمْ	مِّنْ وَّلِيٍّ	وَّلَا نَصِيرٍ ۝٨		
نشته هغوئ لره	څوك دوست	اونۀ مددګار		
هیڅوک ملګرې اومددګار نشته				

قوله تعالی::لِّتُنْذِرَ أُمَّ الْقُرٰى

د مکې معظمې فضیلت او د قیامت اجتماع :-یعنی څنګه چه ای نبی آخرالزمان تاسو نه مخکښې انبیاء باندې وحی راتلله تاسو باندې هم دا قرآن د وحی په ذریعه نازل شوی دې دا په عربیۀ ژبه کښې ډیر واضحه بالکل کولاو ښه انداز بیان والا دې ددې د پاره چه ته دمکې اوسیدونکو ته دالله احکام اورسوې اود الله د عذابونو نه یې خبر کړې. نیز دې ټول اطراف عالم نه ګیر چاپیره نه مراد د مشرق او مغرب هرسمت باندې مکې معظمې ته یې ام القری ددې وجې وئیلې دی چه دا دټولو ښارونو نه افضل اوغوره ده ددې دلائل ډیر زیات دی چه خپل خپل ځائې کښې مذکور دی .دلته یو دلیل چه مختصر هم دې او صفا هم دې واورې ترمذی نسائی ابن ماجه مسند احمد وغیره کښې دی چه حضرت عبدالله بن عدی بن حمراء زهری فرمائی چه ما پخپله د رسول الله ﷺ نه واوریدل هغوی د مکې مکرمې بازار خزوره کښې ولاړ وو او فرمائیل یې چه ای مکې قسم په الله ته د الله د ټولې زمکې نه د الله په نزد زیات محبوب او زیات افضل یې که چرې زه ستا نه استلې شوې نه وې نو قسم د الله په ذات هیڅ چرې به مې نه وې پریخودې .([1])

امام ترمذی دې حدیث ته حسن صحیح فرمائی او ددې د پاره چه ته د قیامت ده ورځې نه ټول اویروې چه په کومه ورځ به ټول اولنی او آخرنی خلق یو میدان کښې جمع کیږی د کومې ورځ په راتلو کښې چه هیڅ شك و شبه نشته .په دغه ورځ به څه خلق جنتیان وی او څه خلق به دوزخیان وی دا به هغه ورځ وی چه جنتیان به په ګټه کښې وی او دوزخیان په تاوان کښې .

[1]) ترمذی کتاب المناقب باب فی فضل مکة : ۳۹۲۵، و هو صحیح ابن ماجه:۳۱۰۸، احمد: ۳۰۵/٤، ابن حبان: ۳۷۰۸.

Scanned with Ca

په دویم آیت کښې فرمائیلې شوې دی ﴿ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ﴾ په دې واقعاتو کښې هغه کس د پاره ډیر لوې عبرت دې چه د آخرت د عذاب نه یریږی .د آخرت هغه ورځ ده چه په هغې کښې به ټول خلق راجمع کیږی او هغه د ټولو د حاضرې ورځ ده مونږه هغه یو معلومی مودې پورې موخر کړې ده په دغه ورځ به څوك هم د الله ﷻ د اجازت نه بغیر هیڅ خبره نشی کولې بیا به په دوی کښې بعضې بدقسمته وی او بعضې خوش قسمته .

مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ خپل صحابو له یو ځل دوه کتابونه په لاس کښې اخستې راوړل اوزمونږ نه یې تپوس اوکړو تاسو ته پته ده دا څه دی؟ مونږ عرض اوکړو مونږ ته خو پته نشته تاسو اوفرمائې.هغوی خپل نبی لاس والا کتاب طرف ته اشاره اوکړه او وې فرمائیل چه د اد رب العالمین کتاب دې چه په کښې د جنتیانو نومونه دی سره د هغوی دپلارانو او دهغوی د قبیلې او په آخره کښې حساب شوې دې او تعداد پوره شوې دې اوس به په دې کښې نه یو کس زیات شی او نه کم. بیا یې خپل ګس لاس کتاب طرف ته اشاره اوکړه او وې فرمائیل دا د دوزخیانو د نومونو رجسټر دې د هغوی نومونه دهغوی ولدیت او د هغوی قوم ټول په دې کښې لیکلې شوې دی بیا په آخره کښې میزان لګولې شوې دې په دې کښې هم کمی بیشی ناممکنه ده .صحابو تپوس اوکړو چه مونږ ته د عمل څه ضرورت دې ؟ځکه چه هر څه لیکلې شوی دی .نبی ﷺ اوفرمائیل ټیك ټاك اوسې د خیر کارونو سره نزدې اوسې د جنتیانو خاتمه به په نیکو او ښه حالاتو باندې وی که هغوی هر څنګه اعمال کوی او د دوزخیانو خاتمه به په جهنمی اعمالو باندې وی که هغوی دهر څنګه کارونو مرتکب وی.بیا هغوی خپل موتی بندکړلو او وې فرمائیل ستاسو رب د بندګانو د فیصلو نه فراغت حاصل کړې دې یوه فرقه په جنت کښې ده او بله په دوزخ کښې دې سره هغوی خپل نبی او ګس لاسونو طرف ته اشاره اوکړه لکه چه څه څیز غورزوی (۱).دا حدیث په ترمذی او نسائی کښې دې.د حضرت امام ترمذی بقول دا حدیث حسن صحیح غریب دې . دا حدیث نورو کتابونو کښې هم دې .

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی الله ﷻ چه کله آدم ﷺ پیدا کړو نو هغه یې اوخندلو لکه څوك چې تیلی څنډی او دهغوی ټول اولاد یې د هغوی نه راوویستل او د میرو په شان هغوی خواره شو دوې یې خپل دواړو لاسونو کښې واخستو او وې فرمائیل چه یو حصه د نیکانو او بله د بدو خلقو .بیا یې هغه خواره کړل دوباره یې هغه راغونډ کړل او هغه شان یې خپل موټو کښې واخستل او وې فرمائیل چه یوه حصه جنتیان او بله دوزخیان .دا روایت هم موقوف صحیح دې. والله اعلم.

دمسند احمد په حدیث کښې دی چه حضرت ابو عبد الله نومې یو صحابی بیمار شو مونږ د هغه تپوس له لاړو څه ګورو چه هغه ژاړی مونږ اووې تاسو ولې ژاړې ؟ تا ته خو نبی ﷺ فرمائیلې دی چه خپل بریت کم ساته تردې چه ما سره ملاو شې.په دې باندې صحابی اوفرمائیل دا خو ټیك ده لیکن ما خودا حدیث ژړوی چه ما د نبی ﷺ نه اوریدلې دی چه الله ﷻ په خپل نبی موتی کښې مخلوق واخستل اودغه شان د دویم لاس موتی کښې هم او وې فرمائیل چه دا خلق ددې دپاره دی یعنی د جنت د پاره او دا خلق ددې د پاره یعنی د دوزخ د پاره او ما ته هیڅ پرواه نشته .

او ما ته ددې پته نشته چه څه د الله په کوم موتی کښې وم (۲).دغه شان د تقدیر د اثبات نور هم ډیر حدیثونه دی .

---

(۱) ترمذی کتاب القدر باب ما جاء ان الله کتب کتابا لاهل الجنة واهل النار: ۲۱٤، ومسنده حسن السنن الکبری :۱۱٤۷۳. احمد: ۲/۱٦۷.

(۲) احمد:٥/٦۸ ، کشف الاستار :۲۱٤۲.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَلَوْشَآءَاللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً

بیافرمانی که الله ﷻ ته منظور وې نو ټول به یې په یو طریقه کړې وې یعنی یاخو په هدایت باندې او یا په ګمراهي باندې خو الله ﷻ په دوی کښې فرق اوساتلو بعضو ته یې د حق لاره اوښودله اوبعضو نه یې دا هیره کړله.په خپل حکمت هم هغه پوهیږی هغه چه چاته اوغواړی د خپل رحمت لاندې ې اودروی د ظالمانو حمایتی او مدد ګار هیڅ څوک نشته دې .په ابن جریر کښې دی چه الله ﷻ ته حضرت موسی ؑ عرض اوکړو چه ای زما ربه تا خپل مخلوق پیدا کړلو بیا به ته په دې کښې څه جنت ته لیږې او څه دوزخ ته څنګه ښه به وه چه ټول جنتیان وې . الله رب العزت ورته اوفرمانیل ای موسی خپلې کپړې اوچتې کړه هغه اوچتې کړې بیا یې اوفرمانیل نورې اوچتې کړه هغه نورې اوچتې کړې وې فرمانیل نورې یې اوچتې کړه جواب یې ورکړو چه ای الله اوس خو مې دټول بدن نه اوچت کړلې سوادهغه ځائې نه چه دهغې نه بره په اوچتولو کښې خیر نشته. وې فرمائیل هم دغه شان څه به هم ټول مخلوق په جنت کښې داخلوم سوا د هغوی نه چه بالکل د خیر نه خالی وی .

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۚ	
ایا نیولی دی دوئ	بې دالله نه	نور دوستان
ایا دوئ د ځان دپاره دالله ﷻ نه سوا نور کارسازان نیولې دی	
فَاللّٰهُ هُوَالْوَلِيُّ وَهُوَيُحْيِ الْمَوْتٰى ۡ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	
پس الله چی دې	هم هغه ولی دې	او هغه ژوندی کوی	مړی	او هغه	په هر څیز باندې	
نودهرچا کارساز(الله ﷻ) دې	اوهغه مړی ژوندی کوی	اوهغه په هر څیز قادر دې	
قَدِيْرٌ ۝ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗٓ	
قادر دې	او هغه	چه اختلاف کوئ تاسو	په هغې کښې	دځه څیز نه	نو فیصله دهغې	
.....	اوتاسو چې په کومه خبره کښې اختلاف کوئ	نودهغې فیصله صرف الله ﷻ	
اِلَى اللّٰهِ ۭ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۭ وَاِلَيْهِ	
(حواله ده) الله ته	دغه الله	رب زما دی	په هغه باندې	بروسه اوکړه ما	او خاص هغه ته	
ته حواله ده	اوهم دغه زما رب دې	زه په ده توکل کوم	اوهم ده ته رجوع کوم	
اُنِيْبُ ۝ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ جَعَلَ لَكُمْ	
رجوع کوم زه	پیدا کونکې دی د اسمانونو	او دزمکې	جوړې نې کړې	ستاسو دپاره	
.....داسمانونو اودزمکې پیدا کونکې دې	هغه تاسو دپاره ستاسو د خپل جنس نه	
مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ يَذْرَؤُكُمْ	
دنفسونو	ستاسو نه	جوړې	او دځاروو نه	جوړې	زیاتوی (خوروی) تاسو	
جوړې پیدا کړی دی	اودغه شان په څاروو کښې ټې جوړې پیدا کړی دی	چې ددې په ذریعه	
فِيْهِ ۭ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ وَهُوَالسَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝	
په دې طریقې سره	نشته	په مثل دهغه	هیڅ څیز	او هغه هر څه اوریدونکې	لیدونکې دې	
ستاسو نسل خوروی	ددې په شان هیڅوک نشته	او دې هرڅه اوری هرڅه وینی ګوری	

Scanned with Ca

لَهٗ	مَقَالِيْدُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ۚ	يَبْسُطُ الرِّزْقَ	لِمَنْ
هغه لره دی	کنجیانې	دخزانو داسمانونو	او دزمکې	فراښه کوی رزق	دپاره دهغه چا
د اسمانونو اود زمکې چابیانې دهغه په اختیار کښې دی	هم هغه چې د چا رزق اوغواړی فراخ ئې				
يَّشَآءُ	وَيَقْدِرُ ؕ	اِنَّهٗ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾	
چه غواړی هغه	او په اندازه کوی رزق	بیشکه هغه	په هر څیز باندې	عالم دی	
کړی	اودچا رزق تنګوی	.....	اوبیشکه هغه په هرڅه ښه پوهه دی		

قوله تعالی:: فَاللّٰهُ هُوَالْوَلِيُّ

خالق او معبود هم هغه دی: الله ﷻ دمشرکانوددې مشرکانه فعل خرابې بیانوی چه هغوی به الله ﷻ سره شرک کولو او د نورو عبادت به یې کولو او بیان فرمائی چه رینبتونې مددګاراوکارونه جوړولو والا خو څه یم.مړی ژوندی کول زما صفت دی هر څیز باندې قابو او قدرت لرل زما وصف دی بیا زما نه سوا د بل چا عبادت څنګه ؟ بیافرمائی چه په کومه معامله کښې په تاسو کښې څه اختلاف پیدا شی دهغې فیصله الله طرف ته اوړې.یعنی د ټولو دینی اودنیاوی اختلافاتو د فیصلې د الله کتاب اودرسول الله ﷺ سنت اومنې.څنګه چه فرمان عالی شان دی ﴿فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ﴾ که چرې په تاسو کښې څه جګړه وی نوهغه الله ته او د هغه رسول ﷺ ته ګرځوی . بیا فرمائی چه هغه الله په هر څیز حاکم دی هم هغه زما رب دی زما توکل هم په هغه دی او زه خپل ټول کارونه هم هغه ته سپارم او هر وخت هم هغه ته رجوع کوم .

هغه اسمان او زمکه او څه چه دد ی په مینځ کښې دی دټول مخلوق خالق دی.دهغه احسان ته اوګوره چه هغه هم ستاسودجنس اوهم ستاسو په شکل کښې ستاسو جوړې یې جوړې کړې یعنی سړی او ښځې او د څناورو یې هم جوړې پیدا کړې چه اته دی .هغه هم په دې پیدایش تاسو پیدا کوی یعنی هم په دې صفت باندی یعنی جوړه جوړه یې پیدا کړلې او ستاسو نسلونه یې خواره کړل.ډیره زمانه تیره شوه او هم دا سلسله راروانه ده یو خوا د انسانانو اوبل خوا د څناورو .بغوی فرمائی مراد په رحم کښې پیداکول دی او بعض فرمائی چه په خیټه کښې .بعض فرمائی هم په دې طریقه باندې خوروی. حضرت مجاهد فرمائی نسلونه خورول مراد دی .

بعض فرمائی دلته د فیه په معنی د به ده یعنی د نراود ښځې دجوړې نه هغه نسل انسانی خوروی او پیدا کوی.حق دا ده چه دخالق په شان بل څوک نشته.هغه یواځې اوصمد دی هغه بې مثاله دی.هغه سمیع اوبصیر دی.د اسمانونو اود زمکو کنجیانې دهغه په لاس کښې دی.سورۃ زمر کښې ددې تفسیر تیر شوی دی.مقصد دا دی چه د ټول عالم متصرف مالک حاکم هغه یواځې دی هیڅ څوک ورسره شریک نشته .چا ته چه اوغواړی ډیر رزق ورکوی او چا باندې تنګی راولی دهغه یو کارهم د حکمت نه خالی نه دی .هیڅ حالت کښې هم هغه په چا ظلم کولو والا نه دی .د هغه وسیع علم ټول مخلوق په احاطه کښې اخستې دی .

شَرَعَ لَكُمْ	مِّنَ الدِّيْنِ	مَا	وَصّٰى	بِهٖ	نُوْحًا
مقرر کړی ده ستاسو دپاره	ددین نه	هغه طریقه	چه وصیت کړې وو	په هغې سره	نوح علیه السلام
او الله تعالی ستاسو دپاره هغه دین مقرر کړې دی	د کوم چې ئې نوح علیه السلام ته کړې وو				

Scanned with Ca

وَالَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا

او هغه طریقه | چې وحی کړی ده مونږه | تاته | اوهغه طریقه | چه هدایت کړې ووٴ مونږه |

اودکوم حکم چې مونږ تاته کړې دي | اودکوم حکم چې مونږ

بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ

په هغې سره | ابراهیم علیه السلام ته | او موسی علیه السلام | او عیسی علیه السلام ته | چه قائم کړئ | دا دین |

ابراهیم علیه السلام ته او موسی علیه السلام او عیسی علیه السلام ته کړې وو | (هغه دادی) چې تاسو په دین باندې قائم اوسیږئ

وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا

او ډلې ډلې کیږئ مه | په هغې کښې | ډېر ګران دي | په مشرکانو باندې | هغه څیز |

او اختلاف په کښې مه کوئ | مشرکانو ته دا خبره ډیره ګرانه ښکاری | کومې ته چې ته

تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ

چه تہ رابلې هغوئ | هغې ته | الله راکاږی (غوره کوی) | ځان خپل ته | هغه څوک | چې غواړی هغه

هغوئ رابلې | الله ﷻ د خپل ځان دپاره دهغه چا انتخاب کوی چې خوښ ئې شی |

وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ١٣ وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ

اولار ښائی | طرف دځان خپل ته | هغه چاته | چې رجوع کوی (الله ته) | اونه دی مختلف شوی خلق

اوخپل طرفته هغه چا ته هدایت کوی څوک چې (الله تعالی ته) رجوع کوی |

إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ

مګر | روستو دهغې نه | چه راغلو هغوئ ته | علم | دوجې دزیاتی کولو نه | په منځ خپل کښې

خلقود علم راتلو نه وروستو په خپل مینځ کښې صرف د بغض په وجه اختلاف کړې دې |

وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى

اوکه چرې نه وې خبره | هغه چې مخکښې شوی ده | دطرفه درب ستا نه | دنیټې مقررې پورې

اوکه ستا د رب د طرفه (دمهلت) یوه خبره ترمقررې نیټې پورې فیصله شوې نه وې |

لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ

نوخامخا فیصله به شوی وه | په منځ ددوئ کښې | اوبیشکه هغه کسان | چه په میراث کښې ورکړې شو ورته

نودووئ په مینځ کښې به فیصله شوې وه | او چاته چې ددغې امتونو نه

ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ١٤

کتاب | روستو دهغوئ نه | خامخا په شک کښې دی | ددغه کتاب نه | په شک پریشانه کښې

پس کتاب ورکړې شوې دې | نو هغوئ ددغې کتاب په حق کښې په شک کښې پریشانه دی

Scanned with Ca

قوله تعالی:: شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ
د ټ ولو نبیانو علیهم السلام مشترکه دتوحید دعوت الله ﷻ چه کوم انعام په دې امت باندې کړې دې د هغې ذکر دلته فرمائی چه تاسو دپاره چه کوم شریعت مقرر کړې دې هغه هغه دې چه د دنیا د تولونه اولنې پیغمبر د حضرت آدم ﷺ او د دنیا د تولو نه آخری پیغمبر د حضرت محمد او د دوی په مینځ کښې د اوچتو اوچتو پیغمبرانو وو.
پس دلته چه د کوم پنځو پیغمبرانو ذکر شوې دې د دغې پنځو ذکر په سوره احزاب کښې هم شوې دې ﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّيْنَ مِيْثَاقَهُمْ﴾ هغه دین چه د تولو انبیاء و په مشترکه دې هغه دیو الله عبادت دې څنګه چه د الله رب العزت فرمان دې ﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا نُوْحِيْٓ إِلَيْهِ أَنَّهٗ لَآ إِلٰهَ إِلَّآ أَنَا فَاعْبُدُوْنِ﴾ یعنی ستاسو نه مخکښې چه څومره هم پیغمبران راغلې دی هغې تولو ته مونږه هم داوحی کړې ده چه معبود زما نه سوا بل نشته .پس تاسو تول هم زما عبادت کوې .حدیث کښې دی چه انبیاء علیهم السلام خپلو کښې د علاتی رونړو په شان دی .زمونږ د تولو دین هم یو دې څنګه چه د علاتی رونړو پلار یو وی(۱)
د ټ ولو انبیاء کرامو عقیده یوه او شریعت جدا جدا وو:: غرض د شریعت په احکامونو کښې اګر چه جزوی اختلاف وی خوپه اصولی طور دین هم یو دې اوهغه توحید باری تعالی عز اسمه دې.فرمان الهی دې ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا﴾ تاسو کښې هر یو د پاره مونږ شریعت جوړ کړې دې .دلته ددې وحی تفصیل داسې بیانیږی چه دین قائم ساتې په یو جماعت کښې په اتفاق سره اوسې اختلاف مه کوې. بیافرمائی هم دا توحید آوازونه په مشرکانو ګران پریوزی .حق خبره دا ده چه هدایت دالله ﷻ په لاس کښې دې څوک چه د هدایت مستحق وی هغه رب طرف ته رجوع کوی او الله د هغه لاس نیسی او د هدایت په لاره یې اودروی .او څوک چه پخپله خرابه لار اختیار کړی او صفا لاره پریږدی الله ﷻ هم د هغه په تندی باندې ضلالت اولیکی .کله چه دې له حق راغلو په دوی باندې حجت قائم شو .دا وخت ددې په خپلو کښې دضدد وجې اختلاف پیدا شو.که د قیامت ورځ دحساب کتاب د پاره مقرر شوې نه وه نو ددې دهر بدعمل سزا به دې ته په دې وخت ملاویده .بیا فرمائی چه دا مخکنی چه د رومبو نه یې کتابونه موندې دی داصرف د تقلید په طور منی.او ظاهر ده چه دمقلد ایمان د شك اوشبې نه خالی نه وی هغوی ته پخپله یقین نشته د دلیل او حجت په بنیاد ددوی ایمان نه دې بلکه د رومبو خلقو چه حق منلو والا نه وو د هغې مقلد دی.

فَلِذٰلِكَ	فَادْعُ ۚ	وَاسْتَقِمْ	كَمَآ	أُمِرْتَ ۚ	
پس هم دغه دین ته	راوبله خلق	او محکم اودریږه	لکه څنګه چې	حکم شوې دې تاته	
نو ته دوئ هم دې (حق دین) طرفته رابله	اولکه څنګه چې درته حکم شوې دې دهغه (په سمه لار) قائم				
وَلَا تَتَّبِعْ	أَهْوَآءَهُمْ ۚ	وَقُلْ	آمَنْتُ	بِمَآ	أَنْزَلَ اللّٰهُ
اومهٔ کوه تهٔ پیروی	دخواهشاتو دهغوئ	اواووایه	ایمان راوړې دې ما	په هغه	چې نازل کړې دې الله
اوسیږئ	اود دوئ د خواهشاتوتابعداری مکوه	اواووایه چې الله ﷻ څومره کتابونه نازل کړی دی			
مِنْ كِتٰبٍ ۚ	وَأُمِرْتُ	لِأَعْدِلَ	بَيْنَكُمْ ۖ	اَللّٰهُ رَبُّنَا	
دکتاب نه	او حکم شوې دې ماته	چې زهٔ انصاف اوکړم	په منځ ستاسو کښې	الله رب زمونږ دې	
ما په هغې ایمان راوړې دې	اوماته حکم شوې دې چې ستاسو ترمینځه (همیشه) انصاف کوم	الله ﷻ			

(۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی ((واذکر فی الکتاب مریم.....)) : ۳٤٤۳، صحیح مسلم: ۲۳٦۵.

Scanned with Ca

وَرَبُّكُمْ ؕ	لَنَآ اَعْمَالُنَا	وَلَكُمْ	اَعْمَالُكُمْ ؕ	لَا حُجَّةَ
او رب ستاسو دي	مونږ لره عملونه زمونږ دي	او تاسو لره	عملونه ستاسو دي	نشته هيڅ جګړه
زمونږ او ستاسو د تولو رب دي	اوزمونږ د پاره زمونږ عملونه اوستاسو د پاره ستاسو عملونه دي			
بَيْنَنَا	وَبَيْنَكُمْ ؕ	اَللّٰهُ يَجْمَعُ	بَيْنَنَا ۚ	وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝١٥ ؕ
په منځ زمونږ او په منځ ستاسو کښې	الله به راجمع کوي	مونږ تول لره او خاص هغه ته واپس ورتلل دي		
زمونږ او ستاسو په مينځ کښې هيڅ جګړه نشته	الله ﷻ به مونږ تول جمع کړي	او هم دهغه طرفته واپس تلل دي		

قوله تعالى:: فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ

لس مستقل کلمې: په دې آيت کښې يو نکته ده چه د قرآن کريم صرف يو بل آيت کښې موندې شی باقی په بل آيت کښې نشته هغه دا چه په دې کښې لس کلمې دی چه هغه ټولې مستقل دی بيله بيله يو يو کلمه په خپل ذات کښې يو مستقل حکم دې هم دا خبره په بل آيت يعنی په آيت الکرسی کښې هم ده.پس① (فَادْعُ ۚ)رومبې خو دا دې چه کومه وحی په تاسو نازليږی هم دا وحی تاسو نه مخکښې ټولو انبياء باندې به رااتلله او کوم شريعت چه ستا د پاره مقررشوې دې هم هغه ستا نه مخکښې انبياء کرام دپاره هم مقرر شوې وو.نو ټولو خلقو ته ددې دعوت ورکړه هر يو هم دې طرف ته رابله او د دې اومنلو اودخوړلو په کوشش کښې لګيا اوسه .

② (اسْتَقِمْ)اود الله ﷻ په عبادت او وحدانيت پخپله هم استقامت کوه او خپل متونکو باندې هم پرې استقامت کوه.

③ (وَلَا تَتَّبِعْ)مشرکين چه کوم اختلاف کوی اوکوم تکذيب اوافترا چه کوی دا ددغی عادت دې اودغير الله ﷻ عبادت ددوی عادت دې خبردار ته هرګز هرګز ددوی په خواهشاتو کښې مه راځه ددوی يوه خبره هم مه منه .

④ (وَقُلْ اٰمَنْتُ)او علی الاعلان د خپلې دې عقيدې تبليغ کوه چه د الله نازل کړی په ټولو کتابونو باندې زما يقين دې.زما دا کار نه دې چه يو اومنم او د نورو نه انکار اوکړم چه يو واخلم او نور پريږدم.

⑤ (وَاُمِرْتُ) زه په تاسوکښې هم هغه احکامات جاری کول غواړم کوم چه دالله طرف نه ما ته رارسيدلې دی اوکوم چه سراسر په انصاف باندې مبنی دی .

⑥ (اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ؕ)معبود برحق صرف الله ﷻ دې. زمونږ او ستاسو معبود هم هغه دې اوهم هغه د ټولو پروردګاردې اګرچه څوک په خپله خوشالې هغه ته ټيټ نه شی خو په اصل کښې هر کس بلکه هر څيز هغه ته ټيټ شوې دي او په سجده کښې پروت دې .

⑦ (لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ؕ)زما عمل زمونږ سره اوستاسو عمل تاسو سره .مونږ ه اوتاسو کښې هيڅ تعلق نشته.ځنګه چه يو بل آيت کښې الله رب العزت فرمائيلې دی که تا دروغژن ګڼړی نو ته ورته اووايه زما دپاره زما اعمال دی اوستاسو د پاره ستاسو اعمال دی.تاسو زما د اعمال نه بری او زه ستاسو د اعمال نه بری يم او زه ستاسو اعمال نه بيزاره يم.

⑧ (لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ؕ)مونږه او تاسو کښې هيڅ خصومت اوجګړه نشته دځه بحث اومباحثې ضرورت نشته.حضرت سدی فرمائی دا حکم خو په مکه کښې وو خوپه مدينه کښې د جهاد احکام نازل شو ممکنه ده چه داسې وی ځکه چه دا آيت مکی دې او د جهاد آيتونه د هجرت نه پس دی .

Scanned with Ca

⑨ (اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا) د قیامت په ورځ به الله رب العزت مونږه ټول راجمع کوی څنګه چه بل آیت کښې دی قل ربنا یعنی ته اووایه چه مونږ به زمونږه رب جمع کوی بیا به په مونږ حق سره فیصله کوی او هم هغه فیصله کولو والا او علم والا دی .

⑩ (وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ) بیا فرمائی هم الله طرف ته واپس تلل دی .

وَالَّذِيْنَ	يُحَآجُّوْنَ	فِي اللّٰهِ	مِنْۢ بَعْدِ	مَا اسْتُجِيْبَ
او هغه خلق	چې جګړې کوی	په دین دالله کښې	روستو دهغې نه	چې قبولوالې شوې دې
او هغه خلق چې د الله ﷻ په باره کښې جګړه کوی			ددې نه پس	چې هغه منلې شوې دې
لَهٗ	حُجَّتُهُمْ	دَاحِضَةٌ	عِنْدَ رَبِّهِمْ	وَعَلَيْهِمْ	غَضَبٌ
هغه لره	دلیل دهغوئ	باطل دی	په نز درب دهغوئ	او په هغوئ باندې	غضب دی
دهغوئ دلیل درب په نیز باطل دی				او په هغوی باندې غضب دی	
وَّلَهُمْ	عَذَابٌ شَدِيْدٌ ⑯	اَللّٰهُ الَّذِيْٓ	اَنْزَلَ الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ
او هغوئ لره دی	عذاب سخت	الله هغه ذات دی	چې نازل ئې کړو کتاب	دحق سره
اودهغوی دپاره سخت عذاب مقرر دی		الله ﷻ هغه ذات دی چې کتاب او (دانصاف) تله ئې په حقه نازل		
وَالْمِيْزَانَ ؕ	وَمَا يُدْرِيْكَ	لَعَلَّ السَّاعَةَ	قَرِيْبٌ ⑰	يَسْتَعْجِلُ
او میزان (تله) هم	او څه پته ده تاته	کیدې شی چې قیامت	نزدې وی	تلوار کوی
کړې ده	اوتاته څۀ معلومه ده	کیدې شی قیامت نزدې وی		کوم خلق چې په دې
بِهَا	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِهَا ۚ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
په راتلودهغې	اهغه کسان	چې هغوئ ایمان نۀ لری	په هغې	اوهغه کسان	چې ایمان یې راوړې دی
ایمان نه راوړی	هغې ته تلوارکوی			اوڅوک چې ایمان دار دی	انوهغوئ تړې نه
مُشْفِقُوْنَ	مِنْهَا ۙ	وَيَعْلَمُوْنَ	اَنَّهَا الْحَقُّ ؕ	اَلَآ	اِنَّ الَّذِيْنَ
یریدونکی دی	دهغې نه	او پوهیږی	چې بیشکه هغه حق دی	ښۀ واوری	بیشکه هغه کسان
ویره کوی	او دا عقیده ساتی	چې قیامت حق دی		یاد ساته	چې څوک د قیامت
يُمَارُوْنَ	فِي السَّاعَةِ	لَفِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ⑱		
چې دشك بحثونه کوی	په راتلو دقیامت کښې	خامخا هغوئ په ګمراهي لرې کښې دی		
په حق کښې جګړې کوی	هغوئ په ډیره غټه ګمراهئ کښې پراته دی			

قوله تعالی:: وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ فِي اللّٰهِ

بیان د بطلان د دلیل دمنګرینو :الله ﷻ هغه خلق یروی چه ایمان والوسره فضول بحثونه کوی هغوی د نیغې لارې نه اړول غواړی اود الله په دین کښې جګړې راوباسی دهغوی دلیل باطل دې هغوی باندې الله ﷻ ډیر زیات غصه دې اوهغوی ته به د قیامت په ورځ سخت ناقابل برداشت سزا ورکولې شی د هغوی طمع پوره کیدل یعنی په مسلمانانو کښې بیادجاهلیت عادتونه راوستل محال دی تېک دغه شان دیهودیانو اونصارو جادو به هم نه چلیږی .ممکنه ده دوی موجوده دین ته خپل رشتونی او اصلی

Scanned with Ca

دین باندې ترجیح ورکړی اوهغه دین واخلی چه په هغې کښې دروغ ملاو شوی دی اوتحریف پکښې شوې دې او بدل شوې دې .

بیا فرمائی چه الله رب العزت حق سره کتاب نازل کړې دې او عدل او انصاف یې رالیږلې دې.لکه څنګه د الله فرمان دې ﴿لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ﴾ یعنی مونږه رسولان ظاهر دلیلونو سره راولیږلو او هغوی سره مو کتاب اومیزان راولیږل چه خلق په انصاف باندې قائم شی.یو بل آیت کښې دی ﴿وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا﴾ یعنی اسمان هم هغه اوچت کړې دې او تله هم هغه ایخودې ده چه تاسو په تلو کښې کمې زیاتې اونکړې او انصاف سره وزن تیك ساتې او تول مه کموې . بیا فرمائی تا ته پته نشته چه قیامت ډیر نږدې دې .په دې یره او لالچ دوانړه دی او په دې کښې دنیا نه بې رغبته کول هم مقصود دی .

قوله تعالی:: يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا

کافران د قیامت نه نه یریږی: بیا یې اوفرمائیل چه ددې انکار کونکی خو تادی کوی چه قیامت ولې نه راځی؟هغوئ وائی که تاسو په حقه یې نو قیامت قائم کړې ځکه چه د هغوئ په نزد د قیامت راتلل محال دی خو ددې برخلاف ایمان والا ددې نه یریږی ځکه چه ددوی عقیده ده چه د قیامت راتلل ضروری او یقینی دی د ددې نه یریږی او هغه اعمال کوی چه په هغه ورځ ددوی په کار راشی .یو صحیح حدیث کښې دی چه تقریبا د تواتر درجې ته رسیدلې دې چه یو کس په اوچت آواز د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه یا رسول الله قیامت به کله وی ؟داواقعه د سفر ده هغه دنبی ﷺ نه لږ لرې وو . نبی ﷺ ورته اوفرمائیل او او هغه یقینا راتلو والا دې ته اووایه چه تا ددې دپاره څه تیاری کړې ده ؟ هغه عرض اوکړو د الله او دهغه د رسول محبت .ته به هغوی سره یې چا سره چه ستا محبت دې(۱).یو بل حدیث کښې د نبی ﷺ فرمان دې هر یو کس به هغه سره وی چا سره چه د هغه محبت وی (۲). دا حدیث یقینا متواتر دې .غرض حضور ﷺ ددې سوال په جواب کښې د قیامت د وخت تعیین اونکړو بلکه سائل ته یې ددغې ورځې د تیارې اوفرمائیل .پس د قیامت د راتللو د وخت علم د الله نه سوا بل چا ته نشته دې . بیا فرمائی چه د قیامت په راتلو کښې چه کوم خلق جګړې کوی هغه ددې منکر دی دا محال ګنړی هغه خالص جاهلان دی .صحیح عقل اوپوهه نه ډیر لرې پراته دی.د نیغې لارې نه ورک شوی دی او ډیر لرې غورزیدلې دی .تعجب دې د زمکې او د اسمانونو ابتدائی خالق الله ﷻ منی او د انسان د مرګ نه پس دوباره ژوندی کولو باندې هغه قادر نه ګنړی چا چه بغیر د څه نمونې ابتداء هغه پیدا کړلو نو دوباره چه دده اجزاء هم څه نه څه موجود دی دې پیدا کول هغه باندې څه ګران دی بلکه عقل سلیم هم داتسلیموی چه دا خو نور هم آسان دې .

اَللّٰهُ لَطِيْفٌ	بِعِبَادِهٖ	يَرْزُقُ	مَنْ	يَّشَآءُ	وَهُوَ الْقَوِيُّ
الله مهربانه دې | په بندګانو خپلو |روزی ورکوی| هغه چاته | چې څه ورکول غواړی|اوهغه طاقتور دې					
الله ﷻ په خپلو بندګانو مهربان دې | چې چاته اوغواړی نو فراخه رزق ورکوی | اوهغه قوی دې					
الْعَزِيْزُ	مَنْ	كَانَ	يُرِيْدُ	حَرْثَ الْاٰخِرَةِ	نَزِدْ
او غالب دې | هغه څوك | چې وی | چې غواړی | فصل داخرت					| زیات والې کوؤ مونږه
او زبردست دې | څوك چې د اخرت فصلونه غواړی| .....مونږ به ورته					

(۱) صحیح بخاری کتاب الادب باب علامة الحب فی الله٦١٧١، صحیح مسلم:٢٦٣٩. ترمذی : ٣٥٣٦ مسند الطیالسی: ١١٦٧.

(۲) صحیح بخاری حواله سابق ، : ٦١٧٠، صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب المرء مع من احب : ٢٦٤١.

لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ

هغه لره په فصل دهغه کښې اوهغه څوک چې وي په فصل ددنيا | فصل ددنيا اورکوؤ مونږ هغه ته

د آخرت فصلونه ډيرورکړو | اوڅوک چې ددنيا فصلونه غواړي انو مونږ به ورته څه قدري

مِنْهَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ۝ اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا

دهغې نه | او نشته هغه لره | په آخرت کښې | هيڅ حصه | يا دوئ لره دي | داسې شريکان

ګڼه ورکړو | اوداسې سړي دپاره په آخرت کښې هيڅ حصه نشته | آيا ددوئ شريکان دي

شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْ

چې مقرر کړي نې ده يوه طريقه | دپاره ددوئ | ددين نه | هغه | چې اجازت نۀ دي ورکړې

چې داسې دين ئې ورته جوړ کړې دې دکوم چې الله ﷻ اجازت نه دي ورکړې

بِهِ اللّٰهُ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ

په هغې سره | الله | او که چرې نۀ وې خبره دفيصلې انوخامخا فيصله به شوې وه | په منځ ددوئ کښې

او که (دمهلت) فيصله نه وې شوې انوددوئ په مينځ کښې به خبره خلاصه شوې وه (اوهلاک شوې به وې)

وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ تَرَى الظّٰلِمِيْنَ

او بيشکه ظالمان چې دي | مقرر دي هغوئ لره | عذاب دردناک | تۀ به اووينې | دا ظالمان خلق

اوظالمانو دپاره دردناک عذاب مقرر دي | ته به داظالمان اووينې | چې دخپلو عملونود انجام نه به

مُشْفِقِيْنَ مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ

يريدونکي | دهغې عمل نه | چې کړې وي دوئ | او هغه به واقع کيدونکې وي | په دوئ باندې

(پخپله) اوويريږي | حال دا چې هغه عذاب به پرې واقع شي |

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ

او هغه کسان | چې ايمان ئې راوړو | او عملونه ئې اوکړل نيک | وي به په باغيچو | دجنت کښې

اوکومو کسانو چې ايمان راوړې دی | او نيک عملونه کوي | هغوئ به دجنتونو په باغيچو کښې اوسيږي

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ

وي به هغوئ لره | هغه | چې غواړي نې هغوئ | په نز درب دهغوئ | دا هم هغه | فضل

د دوی دپاره به د خپل رب سره هر هغه څه وي کوم چې دوی غواړي | هم دغه لوئې فضل دې

الْكَبِيْرُ ۝

لوئ دې |

قوله تعالى: مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ

د آخرت طالب اود دنيا طالب: الله ﷻ خبر ورکوی چه هغه خپل بندګانو باندې ډير مهربانه دي. يوته د بل په ذريعه روزی وررسوی څوک هم نشته چه الله يې هيرکړی نيک او بد هر يو د هغه روزی خوری لکه

Scanned with Ca

څنګه يې چه اوفرمائيل ﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾ په زمکه باندې ګرزيدونکی د ټولو څناورو د رزق ذمه دارالله ﷻ دي.هغه دهر چاد اوسيدو ځائي ډيرښه پيژنی او ټول څه په لوح محفوظ کښې ليکلي شوي هم دی هغه چه چا له اوغواړی زيات رزق ورکوی هغه طاقتوراوغالب دي چه هغه څوک هم مغلوبو لې نه شی .

بيا فرمائی څوک چه د آخرت اعمالو ته توجه کوی مونږ پخپله د هغه مددکوو هغه ته طاقت او قوت ورکوؤدهغه نيکې زياتو بعضې نيکې لس چند ه بعضې اووه سوه چنده او بعضې ددې نه هم زياتو . غرض د آخرت آرزو چه په کوم زړه کښې وی هغه کس ته د نيکې توفيق د الله ﷻ دطرف نه عطا کيږی اوچه دچا ټول کوشش ددنيا دحاصلولو د پاره وی آخرت طرف ته دده توجه نه وی نو هغه د دوانړ و جهانونو نه محرومه وی.د دنيا ملاويدل د الله ﷻ په اراده باندې موقوف دی ممکنه ده چه هغه ډير زور اولګوی اوددنيا نه هم محروم شی.د بد نيتې په وجه خو يې آخرت مخکښې نه خراب کړې وودنيا ورته هم ملاو نه شوه نودوانړو جهانونو نه محرومه شو.او که لږه شان دنيا ورته ملاو هم شی نو په نيش حساب ده.

دغه شان يو بل آيت کښې دا مضمون مقيد بيان کړې شوې دي فرمان دي ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ﴾ يعنی کوم کس چه ددنيا طالب وی تاسو کښې چه مونږ چا ته اوغواړو او څومره اوغواړو ورکوو بيابه هغه د پاره دوزخ خوښو چه دوزخ کښې بد حال او ذليله داخليږی . او څوک چه د آخرت طالب وی اودهغې دپاره چه څومره کوشش پکار وی هغه کوی او وی هم هغه ايمان والا نو ناممکنه ده چه د داسې خلقو د کوششونو قدر دانی او نه شی دنياوی ورکړه خو عامه ده دې سره سره مونږ دهغه پوره امداد کوواوستا د رب دا دنياوی ورکړه په چا بنده نه ده.پخپله اوګوره چه مونږ يو ته په بل باندې څنګه فوقيت ورکړې دي . يقين ساتې چه د درجو اعتبار سره هم او د فضيلت حيثيت سره هم آخرت ډيرلوئې دي.د رسول الله ﷺ فرمان دي چه دې امت ته داوچتوالی او د برترې د نصرت او د بادشاهت زيرې واوروه.په دوی کښې څوک دينی عمل د دنيا دپاره کوی هغه ته به په آخرت کښې هيڅ حصه نه ملاويږی (۱).

قوله تعالى::س أَمْ لَهُمْ شُرَكَاؤُا

مشرکان د خپل غټانو ايجاد کړې شوې شريعت منی :بيا فرمائی چه دا مشرکان د الله ﷻ ددين اتباع خو نه کوی بلکه چه کوم شيطانان او انسانان يې خپل لوې درجې والا (غټان) ګنړلی دی دوی چه ورته کوم حکمونه ښائی دوی هم هغه حکمونو ته دين وائی.حلال او حرام دې خپل غټانو په وينا پيژنی : د عبادت طريقې هم دوی ايجاد کړې دی کوم چه دوی کوی.دغه شان د مال احکام ئې هم پخپله راويستې دی کوم چه دوی شرعی ګنړی چنانچه په جاهليت کښې بعضې څناور هغوی پخپله حرام کړې وو مثلا هغه څناور چه د هغه غوږونه به يې سوری کړل او دخپل خدايانو په نوم به يې پريخودل اوبچی به ئې دحمل په صورت کښې دهغوی په نوم کول.کومې اوښې نه چه به ئې لس بچی اوشول هغه به ئې دهغوئې په نوم پريخودل . بيا به ئې د هغوئې د تعظيم په خيال هغه په خپل ځان حرام ګنړل او بعضې څيزونه به ئې حلال ګنړل لکه مرداره ،وينه او جواری . صحيح حديث کښې دی نبی ﷺ فرمائی ما عمرو بن لحی بن قمعه اوليدلو چه هغه دوزخ کښې خپلې کولمې راکاږلې . دا هغه کس دی چا چه د ټولو نه مخکښې د غير الله په نوم د څناورو پريخودل وئيلې وو(۲) دا کس د خزاعه په

---

۱) احمد: ۱۳٤/٥، ح/۲۱۲۲۳، وسنده حسن ، ابن حبان: ٤٠٥، حاكم : ۳۱۱/٤،شعب الايمان : ٦٨٣٤.

۲) صحيح بخار كتاب المناقب باب قصة خزاعة: ۳٥۲۱، صحيح مسلم: ۲۸٥٦.

Scanned with Ca

بادشاهانو کښې وو هم ده ددې کارونو د ټولو نه مخکښې ایجاد کړې ووچه د جاهلیت په عربو کښې مروج وو.هم قریش والا په بت پرستي اچولی وو الله ﷻ دې په هغه باندې خپل غضب نازل کړی.

قوله تعالی:.لَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ

قیامت دپاره یو وخت مقرر دی:.فرمائی که زما داخبره مخکښې نه مقرر شوې نه وه چه څه به ګنهګارانوله دقیامت راتلو پورې مهلت ورکوم نو مابه نن داکافران په خپل عذاب کښې راګیر کړې وو هغوی ته به د قیامت په ورځ د دوزخ دردناك او ډیرسخت عذاب ورکړې کیږی.د قیامت په میدان کښې به تاسو ګورې چه دا ظالمان خلق به د خپل کړو نه په لړزان او په یره کښې به وی خو نن به هیڅ یوڅیز نه وی چه دوی به بچ کړی.نن خو به دوی د خپلو عملونو سزا ضرور څکی.ددوی بالکل برعکس د ایمان والو نیکانو خلقو حال به دا وی چه هغوی به امن اوسکون سره د جنت په باغونو کښې مزې کوی.د دوزخیانو د ذلت رسوائې او د یرې اود جنتیانو دعزت لوې والی آرام اوسکون خیال اوکړې. هغوی په قسما قسم مصیبتونو او تکلیفونو کښې وی اودوی په قسما قسم لذتونو اوراحتونو کښې وی عمده ښه خوراکونه بهترین لباس ښه کورونه بهترین او ښکلې ښځې او ډیر ښه ساز و سامان به دوی ته ملاویږی چه دهغې لیدل او اوریدل خو پریږده د یو انسان په ذهن او په تصور کښې هم دا څیزونه نه شی راتللی .حضرت ابو طیبه فرمائي چه د جنتیانو په سر باندې یو وریځ راشی او دوی ته به آواز اوشی چه اووائې د څه څیز وریدل غواړې ؟ پس څوك چه د څه وریدل غواړی هم هغه څیز به پرې ددې وریځو نه وریږی تردې پورې چه وائی به چه په مونږ دې ولاړې سینو والا هم عمر ښځې دې اووریږی چنانچه هم دغه پرې اووریږی.ددې وجې ئې اوفرمائیل چه فضل کبیر یعنی زبردسته کامیابی کامل نعمت هم دا دې.

ذٰلِكَ	الَّذِيْ	يُبَشِّرُ اللّٰهُ	عِبَادَهُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
ادا هغه څیز دې اچی زیرې ورکوی الله ابندګانو خپلو لره | هغه اچی ایمان ئې راوړو					
دا هغه فضل دې چې الله ﷻ خپلو ایماندارو بندګانو باندې کړې دې چا چې					
وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ ؕ	قُلْ	لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ	عَلَيْهِ	
او عملونه ئې اوکړل نیك | ورته اووایه | نه غواړم زه ستاسو نه | په دې کار ددین باندې					
نیک اعمال کړی دی |.. (ائې پیغمبره)ته ورته اووایه چې زه ستاسونه (نوره) هیڅ بدله نه غواړم| خو					
اَجْرًا	اِلَّا	الْمَوَدَّةَ	فِي الْقُرْبٰى ؕ	وَمَنْ يَّقْتَرِفْ	حَسَنَةً
څه بدله | مګر غواړم | محبت دوستی | په خپلوئ کښې | او هغه څوك چې اوکړی | نیکی					
د خپلوئ مینه محبت درنه غواړم | اوڅوك چې دنیکئ کارونه کوی | نومونږ به ورته					
نَّزِدْ	لَهٗ	فِيْهَا	حُسْنًا ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۲۳﴾
زیات به کړو مونږ | هغه لره | په هغې کښې | ښه والي | بیشکه الله | ښښونکې | قدردان دې					
په کښې نوره نیکی زیاته کړو| بیشکه الله ﷻ ښښونکې (د نیکانود نیکئ) قدردان دې					
اَمْ يَقُوْلُوْنَ	افْتَرٰى	عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۚ	فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ	يَخْتِمْ	
ایا وائی دا خلق | چی دۀ ترلی دی | په الله باندې | دروغ |پس که چری اوغواړی الله |مهر به اولګوی					
ایا دوئ وائی چې دې پیغمبر په الله ﷻ دروغ جوړ کړی دی | که الله ﷻ اوغواړی نو ستا					

Scanned with Ca

عَلٰى قَلْبِكَ ؕ	وَيَمْحُ اللّٰهُ	الْبَاطِلَ	وَيُحِقُّ	الْحَقَّ	بِكَلِمٰتِهٖ ؕ
په زړۀ ستا باندې	او ختموی الله	باطل	او حق ثابتوی	حق لره	په فرمانونو خپلو سره
په زړۀ به مهر اولګوی	او الله ﷻ باطلې خبرې ختموی		اوحقې خبرې په خپل حکم ثابتې ساتی		

اِنَّهٗ	عَلِيْمٌۢ	بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۴﴾
بیشکه هغه	خبردار دې	په پټو خبرو دسینو باندې
هغه ته د زړونو پټ رازونه ښه معلوم دی		

قوله تعالی:: اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ؕ

مودة فی القربی مفهوم :پورتنی آیتونو کښې دجنت دنعمتونو دذکر بیان دې چه ایمان دارنیکانو خلقو ته دې د دې زیرې وی . بیا خپل نبی ته فرمائی چه د قریشو دې مشرکانو ته اووایه چه په دې تبلیغ او ستاسو په دې خیر خواهې باندې خو څه تاسو نه څه نه غواړم .ستاسو خیر خواهی یو طرف ته که تاسو چرې ددې نه منع شې چه مادخپل رب رسالت رسولو ته پریږدې اودخپلولې دا رشته مخې ته کیږدې او ما ته د تکلیف رسولو نه منع شې نو دا هم لویه خبره ده .

صحیح بخاری کښې دی چه دحضرت ابن عباس نه ددې آیت دتفسیر په باره کښې تپوس اوشونو حضرت سعید بن جبیراووې د آل محمد ﷺ قرابت دې .دا ئې چه واوریدل نو هغه اوفرمائیل چه تا تادی اوکړه.واوره د قریشو چه څومره قبیلې وې ټولوسره دحضور اکرم خپلولی وه نو مطلب دا دې چه تاسو د دغې خپلولې لحاظ اوساتې چه زما ستاسو سره ده (۱).

حضرت مجاهد حضرت عکرمه حضرت قتاده حضرت سدی حضرت ابو مالك حضرت عبدالرحمن بن عوف وغیره هم ددې آیت هم داتفسیر کوی .طبرانی کښې دی چه رسول الله ﷺ قریش کافرانو ته اوفرمائیل چه څه تاسو نه ددې څه اجرت نه غواړم مګر دا چه تاسو دهغې خپلولې خیال اوساتې چه زما تاسو سره ده . زما ددې رشته داري حق چه په تاسو باندې دې هغه ادا کړې (۲).

مسند احمد کښې دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل چه ما تاسو ته کوم دلیلونه درکړې دی دکوم هدایت لاره مې درته ښودلې ده په هغې باندې تاسو نه څه بدله نه غواړم سوا ددې نه چه تاسو الله ﷻ غوښتو والا شې اودهغه د اطاعت په وجه قرب او نزدیکت حاصل کړې (۳)دحسن بصری نه هم دغه شان تفسیر منقول دې.نودا دویم قول شو.رومبې قول دحضورخپله رشته داری وریادول.دویم قول د هغوې دا طلب چه خلق دې د الله ﷻ قرب حاصل کړی . دریم قول چه د حضرت سعید بن جبیر په روایت کښې تیر شو چه تاسوزما خپلوانو سره احسان او نیکی کوې.د ابو الدیلم بیان دې هرکله چه حضرت علی بن حسین قید شو او د دمشق په بالاخانه کښې واچولې شو نویو شامی اووې چه دالله ﷻ شکر دې چه هغه تاسو قتل کړې او تاسو ئې ختم کړې او د فتنې ترقی ئې رامنع کړه.دائې چه واوریدل نو وې فرمائیل چه آیا تا قرآن هم وئیلې دی ؟هغه اووې ولې نه .وې فرمائیل په دې کښې دې د حم سورتونه نه دی لوستی؟هغه اووې ډیر ښه ټول قرآن به مې لوستو اود حم سورتونه به مې نه لوستل؟هغه ورته اوفرمائیل بیا ولې په دې کښې تا ددې آیت تلاوت نه دې کړې قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ؕ یعنی زه تاسونه څه بدله نه غواړم مګر دقرابت محبت.هغه اووې ولې تاسوهغه ئې؟هغو ی اوفرمائیل او جی.

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الشوری باب قوله ((الاالمودة فی القربی...)):۴۸۱۸.
۲) المعجم الاوسط .
۳) احمد:۱/۲۶۸.

Scanned with Ca

د حضرت عمرو بن شعیب نه چه کله ددې آیت تفسیر باره کښې تپوس اوشو نو هغوی اوفرمائیل مراد د رسول الله ﷺ قرابت دی.

قوله تعالی:: قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا

ددې ایت مبارک شان نزول څه دی؟::ابن جریر کښې دی چه انصارو خپل د اسلام خدمتونه د فخر په طوراوشمیرل په دې باندې ابن عباس یا حضرت عباس اوفرمائیل مونږ تاسو نه افضل یو.کله چه دا خبر حضور ﷺ ته اورسیدو نو دئې مجلس ته راغلو او وې فرمائیل اې انصارو آیا تاسودذلت په حالت کښې نه وې؟بیا الله ﷻ زما په وجه تاسو ته عزت درکړو.هغوئې عرض اوکړو چه بې شك تاسو رشتیا وائې.وې فرمائیل آیا تاسو ګمراه نه وې بیا الله ﷻ زما په وجه تاسو ته هدایت درکړو.هغوی عرض اوکړو بې شکه تاسو رښتیا اوفرمائیل .بیا ئې اوفرمائیل اوس تاسو ماته ولې نه وایې ؟هغوئې عرض اوکړو څه اووایو ؟ وې فرمائیل ولې نه وائې چه آیا ستا قوم ته نه وې ویستلې ؟ هغه وخت مونږه تا ته پناه درکړه.آیا هغئې ته دروغژن نه وې ګڼلې هغه وخت مونږه ستا تصدیق اوکړو.آیا هغوئې ذلیله کول نه غوښتل هغه وخت مونږه ستا مدد اوکړو.دغه شان نبی ﷺ نورې هم ډیرې خبرې اوکړې تردې پورې چه انصار خپلوکونډو باندې ټیټ شول هغوئې عرض اوکړو حضورزمونږ اولاد او څه چه مونږ سره دی دا ټول دالله او د هغه د رسول ﷺ د پاره دی.

بیادا آیت قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ نازل شو.ابن ابی حاتم کښې هم ددې نزدې ضعیف سند سره مروی دی . په بخاری او مسلم کښې دا حدیث شته دې په هغې کښې دی چه دا واقعه د حنین د غنیمت د تقسیم په وخت پیښه شوې وه او په دې کښې د آیت د نازلیدو هم ذکر نشته او ددې آیت په مدینه کښې د نازلیدلو منلو کښې هم لږ شان تامل دې څکه چه دا سورت مکی دی . بیا چه کومه واقعه په حدیث کښې مذکور ده په هغه واقعه او په دې آیت کښې څه داسې زیات ظاهری مناسبت هم نشته . په یو روایت کښې دی چه خلقو تپوس اوکړو چه د آیت نه کوم خلق مراد دی؟ چه هغوئې سره د محبت کولو مونږ ته د الله ﷻ حکم دې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل حضرت فاطمه اودهغې اولاد([1])خوددې سند ضعیف دې اوددې راوی مبهم دې چه مشهور نه دې .بیا د هغه استادیو شیعه دې چه دثقاهت نه بالکل غورزیدلې دې دهغه نوم حسین اشقر دې داشان حدیث دهغه روایت سره به څنګه منلې شی؟بیا په مدینه کښې د آیت نازلیدل ډیره لرې خبره ده . حق خبره داده چه دا آیت مکی دې اوپه مکه کښې د حضرت فاطمه نکاح هم نه وه شوې نو اولاد څنګه ؟ د هغې نکاح خو حضرت علی سره د بدر د غزا نه پس په ۲ هجری کښې شوې ده.ددې صحیح تفسیر هم هغه دې چه حبر الامة ترجمان القرآن حضرت عبد الله بن عباس ﷺ کړې دې چه د بخاری په حواله سره مخکښې تیر شوې دي.مونږ اهل بیت سره د خیر خواهې کولو نه منکر نه یو .مونږ منو چه هغوئې سره احسان او سلوك او د هغوئې اکرام او احترام ضروری څیز دې .په مخ د زمکه د هغوئې نه زیات پاك او صفا ښه کورنئې بله نشته.حسب او نسب او فخر کښې بې شکه دا د ټولونه اعلی ده خاص کر په دې کښې هغه چه د نبی دسنتو ا تباع کوونکی دی لکه څنګه چه د اسلافو طریقه وه .یعنی د حضرت ابن عباس او د آل عباس او د حضرت علی او آل علی.رسول الله ﷺ پخپله خطبه کښې فرمائیلې دی زه په تاسو کښې دوه څیزونه پریږدم کتاب الله او زما خاندان اودا دواړه به جدا نه شی ترڅو چه په حوض باندې ما له رانشی ([2]). په مسند احمد کښې دی چه یو ځل حضرت عباس بن عبد المطلب رسول الله ﷺ ته شکایت اوکړو چه قریش والا کله په خپلو کښې ملاویږی نو ډیر په رونې تندی ملاویږی خو مونږ سره په خوشالې نه ملاویږی.دا ئې چه واوریدل

---

[1]) طبرانی : ۱۲۳۸٤،.

[2]) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب فضائل علی بن ابی طالب ﷺ : ۲٤۰۸، بنصر یسیر ترمذی: ۳۷۸۸.

نوحضور ﷺ ډیر خفه شو او وې فرمائیل په الله قسم دچا په قبضه کښې چه زما ساه ده دهیڅا په زړه کښې ایمان ترهغه وخت پورې نشی داخلیدې ترسو چه هغه الله ﷻ ذپاره اودهغه د رسول په وجه تاسو سره محبت نه ساتی (۱) .

اوپه روایت کښې دی چه حضرت عباس اوونیل چه قریشی خپلو کښې خبرې کوی خو چه مونږه اووینی نوچې شی دا ئې چه واوریدل نو د غصې دوجې دنبی ﷺ په تندی باندې لکیرې جوړې شوې او وې فرمائیل والله د چا مسلمان په زړه کښې ایمان تر هغه وخته پورې نشی داخلیدې ترسو چه هغه الله د پاره او زما د رشته داري په وجه محبت نه ساتی (۲). صحیح بخاری کښې دی چه حضرت صدیق اکبر اوفرمائیل اې خلقو! د حضور ﷺ لحاظ د حضور ﷺ په اهل بیت کښې ساتې(۳)یو بل صحیح روایت کښې دی هغوئې حضرت علی ﷺ ته اوفرمائیل په الله قسم د رسول الله خپلوانو سره خپلولی کول ما ته د خپلو رشته دارو سره خپلولی کولو نه زیات ښه لګی (۴) . ځکه چه ستا اسلام حضور ﷺ ته د خطاب داسلام نه زیات محبوب وو(۵) پس د اسلام ددې دوو پرقیدونکوستورودمسلمانانودې دوانړو سردارانو چه کومه معامله د آل رسول اود پیغمبر ﷺ د خپلوانو سره وه هم هغه د عزت او محبت معامله نورو مسلمانانو له د رسول الله ﷺ د اهل بیت او رشته دارو سره ساتل پکار دی.ځکه چه د پیغمبرانو نه پس د ټولې دنیا نه افضل هم دا دوانړه د رسول خلیفه ګان دی پس مسلمانانو له د دوی اتباع کول پکار دی او د رسول الله د اهل بیت او خاندان او قبیلې سره ډیر عقیدت سره پیش راتلل پکار دی . الله ﷻ دې دوانړو خلفاو نه او اهل بیت نه او د حضور ﷺ د ټولو صحابو نه خوشاله شی او ټول دې په خپله رضامندې کښې واخلی .

صحیح مسلم وغیره کښې حدیث دې چه زید بن حیان او حصین بن میسره او عمر بن مسلم حضرت زید بن ارقم له لاړل .حضرت حصین اووې اې حضرت ! تاسو نه خولوې لوې خیر او برکت ملاو شو تاسو د الله نبی ﷺ په خپلو سترګو لیدلې دې تاسو د الله د نبی خبرې په خپل غوږونو اوریدلې دی هغوئ سره مو جهاد کړې دې هغوئ سره مو مونځونه کړې دی حق خبره دا ده چه لوې لوې فضیلتونه تاسو ته حاصل دی .اوس تاسو یو حدیث مونږ ته هم واوروې .په دې باندې حضرت زید اوفرمائیل اې زما وراره واوره زما عمر ډیر زیات شوې دې .دحضور ﷺ د رحلت هم زمانه اوشوه بعض ځیزونه په دماغوکښې محفوظ هم نه دی پاتې شوې اوس خوهم هغه ځان سره ساتې چه څه درنه څه پخپله واوروم هغه منې او ما ته تکلیف مه راکوې چه زه په تکلف سره بیان کړم .

د اهل بیت په شان کښې خطبه :بیا هغوئ اوفرمائیل چه د مکې او دمدینې په مینځ کښې د اوبو ځائې سره نزدې چه خم ورته وائ په اودریدو سره د الله رسول ﷺ مونږ ته ئې داخطبه واورولې.د الله ﷻ دحمد او ثنا نه پس ئې اوفرمائیل چه اې خلقو زه یو انسان یم څه عجیبه ده چه اوس ما له دالله یو قاصد راشی اوخه دهغه خبره اومنم .واورې څه په تاسوکښې دوه ځیزونه پریږدم یوخو دالله کتاب چه په کښې نوراوهدایت دې.تاسو د الله کتاب په مضبوطې سره اونیسې اوپدې باندې منګولې اولګوی .پس ددې ئې ډیر رغبت راکړو او ددې ئې ډیر تاکید اوکړو.بیا ئې اوفرمائیل چه زه تاسو ته خپل اهل بیت باره کښې الله ﷻ دریادوم .دا ئې چه واوریدل نو حصین د حضرت زید نه تپوس اوکړو اې زید د حضور ﷺ

---

۱) ترمذی کتاب المناقب باب مناقب ابی فضل عم النبی ﷺ : ۳۷۵۸.
۲) احمد: ۶۳۹/۲ ، دلائل النبوة : ۱۶۷/۱،
۳) صحیح بخاری کتاب فضائل اصحاب النبی ﷺ : باب مناقب قرابة رسول الله ﷺ : ۳۷۱۳.
۴) صحیح بخاری حواله سابق : ۳۷۱۲.
۵) ابن اسحاق: فی السیرة (سیرة ابن هشام : ٤٥/٤) .

Scanned with Ca

اهل بیت څوك دی؟ایا د هغوئي بیبیاني په اهل بیت کښي نه دی؟وې فرمائیل بیشکه دهغوئ بیبیاني هم په اهل بیت کښي دی خود نبی ﷺ اهل بیت هغه دی چا باندې چه د هغوئ نه پس صدقه حرامه ده تپوس ئې اوکړو هغه څوك دی ؟ وې فرمائیل آل علی آ ل عقیل آل جعفر آل عباس .تپوس ئې اوکړو په دې تولو صدقه حرامه ده؟وې فرمائیل او جی(۱)په ترمذی کښي دی حضور ﷺ اوفرمائیل زه په تاسو کښي یوداسې څیز پریږدم که تاسو هغه مضبوط اونیسه نوبې لاړې کیږئې به نه.یو بل زیات عظمت والا دې .کتاب الله چه د الله د طرف نه یوه زورنده رسي ده چه داسمان نه زمکي ته راغلي ده او دویم څیز زما خاندان زما اهل بیت دی او دا دوانړه به جدا کیږی نه ترسو چه ما له حوض کوثر باندې راشی.پس ګورې چه زمانه پس څنګه په دوی کښي زما اتباع کوې ؟(۲) امام صاحب فرمائ چه دا حدیث حسن غریب دې .صرف په ترمذی کښي هم دا روایت دې .دحضرت جابر بن عبد الله ﷺ په روایت سره په ترمذی کښي دی د عرفې په ورځ رسول الله ﷺ په خپلې اوښې باندې سور شوې وو چه ورته قصواء وئیلې شی اوخطبه ئې ورکړه .چه په هغې کښي اوفرمائیل چه اې خلقو زه په تاسو کښي یو داسې څیز پریږدم که چرې هغه تاسو واخستو نو چرې به هم ګمراه نه شې.کتاب الله او زما عترت اهل بیت (۳)د ترمذی په یو بل روایت کښي دی چه دالله نعمتونه مخښي ته ایږدې اود الله سره محبت ساتې او الله د محبت په وجه ما سره محبت ساتې.او زمادمحبت په وجه زما اهل بیت سره محبت ساتې(۴)دا حدیث او پورتنې حدیث حسن غریب دی.ددې مضمون نو ر حدیثونه مونږ د ﴿انمایریدالله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت﴾ په تفسیر کښي وارد کړی دی.دلته د هغې دوباره راوړلو ضرورت نشته.فالحمد لله .یو ضعیف حدیث په مسندابو یعلی کښي دې چه ابو ذرد بیت الله د دروازې کنډه نیولې وه او وې فرمائیل اې خلقوځوك چه ما پیژنی نو هغه ما هسې هم پیژنی او څوك چه نه پیژنی نوهغه دې اوس ما اوپیژنی چه زما نوم ابو ذر دې . واوري ماد رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی چه په تاسو کښي زماد اهل بیت مثال د نوح ﷺ دکشتې دې څوك چه هغې ته لاړل هغوئ نجات اوموندو او څوك چه داخل نه شو هغه هلاك شول (۵) .

قوله تعالی::وَمَنْ يَقْتَرِفْ حَسَنَةً

دنکیئ هومره بدله ::بیا ئې اوفرمائیل چا چه نیك عمل اوکړو مونږ د هغه ثواب نور هم زیاتو لکه څنګه چې ئې یو بل آیت کښي اوفرمائیل چه الله ﷻ دیوې ذرې برابر هم ظلم نه کوی.که نیکی وی نو نوره ئې هم زیاتوی اودخپل طرف نه اجر عظیم ورکوی.د بعضې اسلافو قول دې چه دنیکې ثواب ددې نه پس نیکی ده اود برائې بدله ددې نه پس برائی ده.بیا فرمان اوشو چه الله ﷻ د ګناهونو بخښونکې دې او دنیکو قدر دانی کولو والا دې هغه زیاتوی .

بیا ئې اوفرمائیل چه دا جاهلان کافران څه وائ چه داقرآن تا د خپل طرف نه جوړ کړې دې د الله ﷻ په نوم کړې دې داسې نه ده که چرې وې نو الله به ستا په خوله مهر وهلې وو او تا ته به څه هم یاد نه وو . لکه څنګه چه فرمان دې ﴿وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ﴾یعنی که چرې رسول زمونږ په ذمه څه خبرې لګولې وې نو مونږ به د هغه ښې لاس نیولې وو او د هغه د زړه رګ به مو کټ کړې وې او تاسو کښي به چا هم هغه ددې سزانه نه ووبچ کړې.یعنی د دوئ زمونږپه کلام کښي لږ شان هم زیاتې کړې وې نو داسې

---

۱) احمد : ٤/٤٦٦، صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة ، باب من فضائل علی بن ابی طالب ﷺ : ٢٤٠٨.
۲) ترمذی کتاب المناقب باب ف مناقب اهل بیت النبی ﷺ: ٣٧٨٨ وهو صحیح.
۳) ترمذی کتاب المناقب باب ف مناقب اهل بیت النبی ﷺ: ٣٧٨٦ وهو صحیح
۴) ترمذی کتاب المناقب باب ف مناقب اهل بیت النبی ﷺ: ٣٧٨٩ وهو حسن.
۵) حاکم : ٢/٣٤٣، وسنده حسن .

Scanned with Ca

انتقام به مواخستې وو چه د دنیا یوې هستې به هم دئ نه وو بچ کړې .
احنفی اددې نه پس جمله یمح الله یختم باندې معطوف نه ده بلکه دا مبتداده او د مبتدا په وجه مرفوع ده یختم باندې عطف نه دې چه مجزوم وی.د واو په کتابت کښې نه راتلل داصرف د امام د رسم خط د موافقت د وجې نه دې لکه ﴿سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ﴾ کښې واو په لیکلو کښې نه دې راغلې.او ﴿وَيَدْعُ الْإِنْسَانُ بِالشَّرِّ﴾ کښې واو نه دې لیکلې شوې.او ددې نه پس د جملې و یحق الحق عطف په یمح الله باندې دې یعنی الله ﷻ حق واضح او بیان کړې دې خپلو کلماتو سره یعنی دلائل نې بیان کړل او حجت نې پیش کړو اوهغه ښه دانا اوبینا دې . د زړونو رازونه او د سینو پټې خبرې هغه باندې کو لاو شوی دی .

					وَهُوَ الَّذِيْ	يَقْبَلُ
					او هغه هغه ذات دې	چې قبلوی
					او هغه (الله ﷻ) هغه ذات دې	
التَّوْبَةَ	عَنْ عِبَادِهٖ	وَيَعْفُوْا	عَنِ السَّيِّاٰتِ	وَيَعْلَمُ	مَا	
توبه	دبندګانو خپلو نه	او عفوه کوی	دګناهونو نه	او پوهیږی	په هغې	
چې د خپلو بندګانو توبه قبلوی		اوګناهونه ورته معاف کوی		اوتاسو چې څه کارونه کوئ		
تَفْعَلُوْنَ ۝	وَيَسْتَجِيْبُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا		
چې کوئ نې تاسو	او دعا قبلوی	دهغه کسانو	چې ایمان نې راوړو	او وې کړل عملونه		
په هغې باندې خبر وی	او دهغو خلقو دعا قبلوی	چې ایمان نې راوړې دې	اونیک کارونه کوی			
الصّٰلِحٰتِ	وَيَزِيْدُهُمْ	مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ	وَالْكٰفِرُوْنَ	لَهُمْ		
نیک	او زیات ورکوی هغوئ ته	دفضل خپل نه	او کافران چې دی	هغوئ لره دې		
اود خپل فضل نه ورته نورزیادت کوی			.....او څوک چې کافران دی هغوئ دپاره			
عَذَابٌ	شَدِيْدٌ ۝	وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ	الرِّزْقَ	لِعِبَادِهٖ		
عذاب	سخت	او که فراخه کړې وې الله	رزق	دپاره دبندګانو خپلو		
سخت عذاب مقرر دې		اوکه الله ﷻ خپلو بندګانو ته روزی فراخه کولې				
لَبَغَوْا	فِي الْاَرْضِ	وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ	بِقَدَرٍ			
نو خامخا به سرکشی کړی وه هغوئ	په زمکه کښې	ولیکن نازلوی هغه	په اندازه سره (رزق)			
نوهغوئ به په دنیا کښې شرارتونه کول		اخوالله ﷻ چې څومره غواړی په یو اندازه رزق نازلوی				
مَّا	يَشَآءُ ؕ	اِنَّهٗ	بِعِبَادِهٖ	خَبِيْرٌۢ	بَصِيْرٌ ۝	
هغه	چې غواړی هغه	بیشکه هغه	په بندګانو خپلو باندې	خبردار دې	نظر لرونکې دې	
		.....بیشکه هغه (الله) دخپلو بندګانو نه خبردې		اوهر څه وینی ګوری		
وَهُوَ الَّذِيْ	يُنَزِّلُ الْغَيْثَ	مِنْۢ بَعْدِ	مَا قَنَطُوْا	وَيَنْشُرُ		
او هغه هغه ذات دې	چې نازلوی باران	پس دهغې نه	چې ناامیده شو هغوئ	او راخوروی		
اوالله ﷻ هغه ذات دې	چې دخلقو دناامیدئ نه پس باران راوروی		اوخپل رحمت			

رَحْمَتَهٗ ؕ	وَهُوَ الْوَلِیُّ	الْحَمِیْدُ ﴿۲۸﴾
رحمت خپل | او هغه ولی (ذمه وار) دي | ستائیلي شوي دي |		
خورووی | او هغه دهرچا کار ساز ستائیلي شوي دي |		

قوله تعالی::

ربښتونې توبه کناهونه ختموی: الله ﷻ خپل احسان او خپله مهربانی بیانوی چه هغه په خپل غلامانو باندې دومره مهربانه دي چه د بد نه بد ګنهګار هم د خپلې د بدکارئ نه منع شی او په اخلاص سره هغه ته تیټ شی په ربښتونی زړه توبه اوباسی نو هغه په خپل کرم او رحم سره د هغه پرده پوشی کوی . د هغه ګناه معاف کوی او خپل فضل د هغه شامل حال کوی لکه څنګه چه بل آیت کښې دی ﴿وَمَنْ یَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ یَظْلِمْ نَفْسَهٗ﴾ څوک چه څه بد کار اوکړی یا په خپل ځان باندې ظلم اوکړی بیا د الله ﷻ نه بخښنه او غواړی نو هغه به الله رب العزت غفور او رحیم بیا مومی .

الله تعالی د خپل بنده په توبه ډیر خوشحالیږی:: په صحیح مسلم کښې دی الله ﷻ د خپل بنده د توبې نه د دې نه زیات خوشالیږی چه د چا اوښه په څنګل کښې ورکه شوې وی چه په هغې باندې دهغه خوراک او څښاک هم وی چه هغه د هغې ډیر تلاش اوکړی او عاجز راشی او دیوې ونې لاندې راشی پریوزی او دخپل ځان نه هم لاس اوینځی او اوښې نه بالکل نا امیده شی چه یکدم هغه اوګوری چه اوښه هغه سره نزدې ولاړه ده دې فورا پاسی کینی د هغې واګې اونیسی او دومره زیات خوشاله شی چه بې تحاشه د هغه د خولې نه او څی چه بې شکه ته زما غلام یې اوزه ستا رب یم.هغه د خپلې خوشالې په وجه دا غلطی اوکړی[1] یو مختصر حدیث کښې دی چه الله ﷻ دخپل بنده د توبې نه دومره زیات خوشالیږی چه دومره خوشالی هغه کس ته هم نه وی چه په داسې ځائې کښې وی چه هلته د تندې د وجې هلاک کیږی اوهلته د هغه د سورلې څناور ورک شی چه هغه ته یکدم ملاو شی.حضرت ابن مسعود نه چه کله دامسئله او پښتلې شوه چه یو کس دیوې بنځې سره غلط کار کوی بیا هغې سره نکاح کولې شی ؟ هغوئ اوفرمائیل په نکاح کښې هیڅ حرج نشته دې بیا هغوئ هم دا آیت اولوستلو[2] توبه خود مستقبل دپاره قبوله شی او ګناهونه تیر شوی معاف شی.ستا د هر فعل اودهرعمل هغه ته علم دې . باوجود ددې چه تیټیدونکو ته متوجه کیږی او قبلوی ئې.هغه دایمان والو او د نیکانو دعاګانې قبلوی هغوی که څان له دعا کوی او که نو رو له .

دمعاذ ﷺ خطبه:: حضرت معاذ په ملك شام کښې د خطبې په دوران خپل مجاهد ملګرو ته فرمائ تاسو ایمان والا یئ او جنتیان یئ او زه امید لرم چه دا رومیان او فارسیان چه تاسو هغه قیدوې او راولې یئ . څه عجیبه ده چه دوئ هم جنت ته لاړ شی.خکه چه په دویئ کښې څوک ستاسو څه کار اوکړی نو تاسو هغه ته وایئ چه الله دې په تا رحم اوکړی تا ډیر ښه کار اوکړو الله د تا ته برکت در کړی تا ډیر ښه اوکړه وغیره او د قرآن وعده ده چه الله د ایمان والو او د نیك خلقو دعاګانې قبلوی.بیا هغوې هم د دې آیت ترجمه اوکړله.د دې معنی دا ده الله ﷻ دهغوې اوری.د ﴿الَّذِیْنَ یَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ﴾ دا تفسیر شوی دي چه څوك خبره منی او د هغه اتباع کوی.او لکه څنګه چه ئې اوفرمائیل ﴿اِنَّمَا یَسْتَجِیْبُ الَّذِیْنَ یَسْمَعُوْنَ﴾ ابن ابی حاتم کښې دی چه د خپل فضل نه زیات ورکول دادی چه د دې په حق کښې دداسې خلقو سفارش قبلوی چا سره چه هغوئ څه ښه کړې وی .

---

[1])صحیح بخاری الدعوات باب التوبة : ۶۳۰۹، مختصرا .

[2]) الطبری : ۵۳۳/۲۱.

حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله ددې آیت په تفسیر کښې فرمانیلې دی چه هغه به د خپل رونړو سفارش کوی اوهغه ته به زیات فضیلت ملاویږی یعنی د رونړو د رونړو د سفارش اجازت به ورته هم اوشی(۱) دمومنانو ددې عزت او شان د بیانولو نه پس ئې د کافرانو د بد حالې بیان فرمائ چه هغو ئ ته به ډیر دردناك او د ویرې عذاب ورکړې کیږی .

بیا یئ اوفرمائیل که دې بندیانو ته د دې د روزې وسعت ملاو شوې وو د دوی د ضرورت نه زیات دوی ته ملاو شوې وه نو دویئ به مستئ او عیاشې کښې اخته شوې وو او دنیا کښې به یئ فساد جوړ کړې وو.او د دنیا امن ته به یئ اور ورته کړې وو یو بل پوکل او خوړل او سرکشی اوتکبر او بې پرواهی به د حد نه زیاته شوې وه.ددې وجې د حضرت قتاده فلسفیانه مقوله ده ژوند سامان دومره ښه دې څومره کښې چه سرکشی او بې پرواهی نه راځی.ددې مضمون پوره حدیث ما ته په تاسو باندې د ټولو نه زیاته یره د دنیا د نمائش ددې مخکښې بیان شوې دې .بیا فرمائی هغه په یو اندازه روزی رسوی د بنده د صلاحیت هغه ته علم دې د غنا او د فقیرې مستحق هغه ډیر ښه پیژنی .

د حدیث قدسی کښې دی زما داسې بندګان هم شته چه د هغوئ صلاحیت په مالدارې کښې دې . که زه هغوئ فقیران جوړ کړم نو هغئ به د دینداری هم لاس اوینځی . او زما بندګان داسې هم دی چه د هغئ مناسب هم فقیری ده . که هغئ مال حاصل کو او مالداران شول نو په دې حالت کښې لکه زه به د هغوئ دین خراب کړم (۲). بیا ارشاد کیږی چه خلق د رحمت د باران په انتظار کښې مایوسه شی په داسې پوره حاجت او د ضرورت په وخت کښې زه باران وروم .دهغوئ نا امیدی او خشك سالی ختمه شی او زما رحمت په عام توګه خور شی .

امیر المومنین حضرت عمر بن خطاب ته یو کس وائ چه قحط سالی شوه او اوس خو خلق د باران نه بالکل نا امیده شول . نوهغوئ اوفرمائیل چه لاړ شه اوس به باران انشاء الله ضرور کیږی(۳) بیا ئې ددې آیت تلاوت اوکړو.هغه ولی او حمید دې یعنی دمخلوقاتو تصرفات هم د هغه په قبضه کښې دی د هغه کارونه د تعریف قابل دی د مخلوق په خیر باندې هغه خبردار دې اودهغئ د نفعې هغه ته علم دې اودهغه کارونه د ګټې نه خالی نه دی.

				وَمِنْ اٰيٰتِهٖ	خَلْقُ
				او دنښو دهغه نه	پیدا کول
				او دالله ﷻ د (وحدانیت) په ښو کښې	
السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا	بَثَّ	فِيْهِمَا	مِنْ دَآبَّةٍ ؕ
د آسمانونو	او دزمکې دی	او هغه	چې خواره کړی ئې دی	په دې دواړو کښې	دساه مخلوق
داسمانونواو د زمکې پیداکول دی		اود ساه کوم څیزونه چې ئې په دې دواړو کښې خواره کړی دی			
وَهُوَ	عَلٰى جَمْعِهِمْ	اِذَا يَشَآءُ	قَدِيْرٌ ۝	وَمَآ اَصَابَكُمْ	
اوهغه	په راغونډولو ددوئ	کله چې اوغواړی	قادر دې	او هغه چې اورسیدو تاسو ته	
اوهغه (الله) چې کله اوغواړی نوددوئ په راجمع کولو قادر دې				اوتاسوته چې کوم مصیبت	

(۱) الطبری :۵۳٤/۲۱.
(۲) تفسیر البغوی :۱۸۷۷،
(۳) الطبری :۵۳۷/۲۱.

Scanned with Ca

مِّنْ مُّصِيْبَةٍ	فَبِمَا	كَسَبَتْ	اَيْدِيْكُمْ	وَيَعْفُوْا
څه مصيبت	نو په سبب دهغې عمل دې	چې کسب کړې دې لاسونو ستاسو	او عفوه کوی هغه	
رسی	نودخپل عمل دلاسه در رسی	اوډیرداسې ګناهونه دی کوم چې درته	الله ﷻ	

عَنْ كَثِيْرٍ ۝	وَمَآ اَنْتُمْ	بِمُعْجِزِيْنَ	فِى الْاَرْضِ ۚ	وَمَا لَكُمْ
دډیرو ګناهونو نه	او نۀ یې تاسو	عاجزه کونکی (الله لره)	په زمکه کښې	او نشته تاسو لره
معاف کوی	او تاسو هغه د زمکې په مخ باندې عاجزه کولې نشئ	اودالله ﷻ نه سوا		

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ	مِنْ وَّلِىٍّ	وَّلَا نَصِيْرٍ ۝
بې دالله نه	څوك دوست	ونۀ مدد ګار
ستاسو هیڅوک ملګرې یا مددګار نشته		

قوله تعالى:: وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ د الله ﷻ د قدرتونو بیان:- دالله ﷻ دعظمت قدرت او دسلطنت بیان روان دې چه اسمان او زمکې هم هغه پیداکړې دی او په دې کښې ټول مخلوق هم هغه الله خور کړې دې .فرښتې او انسانان او پیریان اومختلف قسمه ځناور کوم چه په ګوټ ګوټ کښې خواره شوې دی د قیامت په ورځ به هغه دا ټول په یو میدان کښې جمع کوی چه ددئ حواس به قائم نه وی او په دوی کښې به عدل او انصاف کیږی .

قوله تعالى:: وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ

بیا فرمائ اې خلقو تاسو ته چه کوم مصیبتونه در رسی هغه ټول په اصل کښې ستاسو دګناهونو بدله ده او اوس خوهغه غفور و رحیم الله ستاسو ډیر بدکارو باندې پرده اچوی او هغه معاف کوی که په هره ګناه تاسواونیسی نو تاسو به بیا په زمکه هم نه ګرزې .په صحیح حدیث کښې دی چه مومن ته چه کوم تکلیف سختی او غم او پریشانی رسی د هغې په وجه الله ﷻ دهغه خطاګانې معاف کوی تردې چه د یو ازغی د ننوتو په بدله کښې هم (۱) کله چه آیت ﴿فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝﴾ الخ نازل شو نوهغه وخت صدیق اکبر روتې خوړله هغه چه دا واوریدل نو د روتې نه یې لاس اوچت کړو او وې ونیل یارسول الله ﷺ ! آیا دهرهر بدې او نیکې بدله به ورکړې کیږی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل واوره دطبیعت خلاف چه کوم څیزونه وی داټول د بدو اعمالو په بدله کښې دی اونیکې ټولې الله ﷻ سره جمع شوې دی .حضرت ابو ادریس فرمانی هم دا مضمون په دې آیت کښې بیان شوې دې (۲) امیر المومنین حضرت علی ﷺ فرمائ راشې چه څه تاسوته د کتاب الله د ټولو نه غوره آیت واوروم او ورسره حدیث هم .

حضور ﷺ مونږ ته د دې آیت تلاوت اوکړو او خما نوم یې واخستو او وې فرمائیل واوره چه ددې تفسیر هم تاسو ته اوښایم تا ته څه بیمارئ سختئ اومصیبتونه در رسی هغه ټول بدله ده ستاسو د اعمالو. د الله ﷻ حلم ددې نه ډیرزیات دې چه بیا په دې په آخرت کښې هم سزا ورکړی اواکثر بدې معاف کوی نودهغه دکرم نه دا ناممکنه ده چه دنیا کښې په معاف شوو خطا ګانو باندې یئ په آخرت کښې اونیسی (۳) (مسند احمد)

---

(۱) صحیح بخاری المرضی باب ماجاء فی کفارة المرض:٥٦٤٢، صحیح مسلم:٢٥٧٣.

(۲) الطبری :

(۳) احمد:۱\۸۵، مسند ابی یعلی : ٤٥٣. مجمع الزوائد:۷/۱۰٤.

Scanned with Ca

په ابن ابی حاتم کښې هم داروایت دحضرت علی ﷺ په قول سره مروی دې په هغې کښې دی چه ابو جحیفه چه کله حضرت علی ﷺ له لاړو نو هغوئ اوفرمائیل زه تاسو ته یو داسې حدیث اوروم چه هغه یادساتل دهرمسلمان فرض دی .بیا ئې دا تفسیر دخپل طرف نه ددې آیت واورو. په مسند کښې دی چه دمسلمان په جسم کښې چه کوم تکلیف وی د هغې په وجه الله ﷻ د هغه ګناه معاف فرمائ(۱) هم د مسند په یو بل حدیث کښې دی چه کله د ایماندار بنده ګناهونه زیات شی اودهغه د کفارې څه څیز هغه سره نه وی نوالله ﷻ هغه په څه رنج اوغم کښې مبتلا کړی اوهغه دهغه دګناهونوکفاره جوړ شی.

(۲) په ابن ابی حاتم کښې د حضرت حسن بصری روایت دې چه ددې آیت په نازلیدو حضور ﷺ اوفرمائیل په هغه الله قسم د چا په قبضه کښې چه د محمد ساه ده چه ددې لرګی لږ شان ګریدل درګ ګډوډ کیدې شی تردې چه د خپې خوبدل هم د څه نه څه ګناه په وجه وی حالانکه د الله ﷻ ډیرې معاف شوې ګناهونه هم داسې لاړې شی. هم په ابن ابی حاتم کښې دی چه کله حضرت عمران بن حصین په بدن کښې تکلیف وو او خلق د هغه عیادت له لاړل نو حضرت حسن اووې چه ستاسو دا حالت خو د کتو نه دې مونږ ته ډیره صدمه اوشوه هغه اوفرمائیل داسې مه کوه دا چه تاسو څه وینئ دا ټول د ګناهونو کفاره ده او ډیرګناهونه خو الله ﷻ معاف کړې دی بیا ئې ددې آیت تلاوت اوفرمائیلو(۳) .

ابو البلادوائ چه ما حضرت علاء بن بدر ته اووې چه په قرآن کښې خو دا آیت دې او زه لا نابالغه یم او روند شوې یم.هغوئ اوفرمائیل د ستا د موراو پلار ګناهونو بدله ده.حضرت ضحاك فرمائی چه قرآن وینلونه پس هیرولو والا به یقینا په خپله ګناه کښې نیولې شوې وی.د دې څه بله وجه نشته دې . بیا هغوئ ددې آیت تلاوت اوکړو او وې فرمائیل اووائ ددې نه لوې مصیبت به څه وی چه انسان د یادولو نه پس کلام الله هیر کړی .

			وَمِنْ اٰيٰتِهِ		الْجَوَارِ
					او دنښو دقدرت دهغه نه | کشتئ (جهازونه) دی
					| .....او دهغه په نښو کښې (یوه نښه ستاسو)
فِي الْبَحْرِ	كَالْاَعْلَامِ ۝	اِنْ يَّشَاْ	يُسْكِنِ الرِّيْحَ	فَيَظْلَلْنَ	
په دریاب کښې |	پشان دغرونو |	که اوغواړی هغه |	نو اوبه دروی هوا |	پس شی به هغه کشتئ	
جهازونه دی|چې دغرونو په شان په سمندر کښې روان دی |			که هغه اوغواړی|نو بادونه بهٔ اودروی|نو		
رَوَاكِدَ	عَلٰى ظَهْرِهٖ ؕ	اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّكُلِّ صَبَّارٍ	
ولاړې |	په شا دهغې (دریاب) |	بیشکه په دې کار کښې |	خامخا نښې دی |	دپاره دهر صبر کونکی	
سمندر به په خائې ولاړپاتې شی|			په دې کښې دهرصابر شکرګذار بنده دپاره		
شَكُوْرٍ ۝	اَوْ يُوْبِقْهُنَّ	بِمَا	كَسَبُوْا		
شکرایستونکی |	یا هلاکې (ډوبې) کړی دغه کشتئ |	په سبب دهغه بدعمل چی کړې وی هغوئ |		
نښې پرتې دی |	یا (که اوغواړی نو) ددوئ دعملونو په سبب به دغه جهازونه				

---

(۱) احمد:۹۸/٤ وسنده حسن .

(۲) احمد:۱۵۷/٦، البزار:۳۲٦۰.

(۳) حاکم:٤٤٥/۲،.

وَيَعْفُ	عَنْ كَثِيْرٍ ۝	وَّيَعْلَمَ الَّذِيْنَ	يُجَادِلُوْنَ
او معافی کوی	دډیرو ګناهونو	او چی پته اولړی هغه کسانوته	چی جګړی کوی
تباه کړی	اودډیرو ته بیا هم معافی کوی	اودې دپاره چې کوم خلق زمونږ په آیتونو کښې	
فِيْٓ اٰيٰتِنَا ؕ	مَا لَهُمْ	مِّنْ مَّحِيْصٍ ۝	
په آیتونو زمونږ کښی	چه نشته هغوئ لره	هیڅ خائ دپناه	
جګړې کوی هغوی په دې پوهه شی	چې هیڅ خلاصې ورله نشته		

قوله تعالی:: وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ۝

په دریابونوکښې دکشتو آمدورفت :الله ﷻ دخپل قدرت ښکاره کولو دخپل مخلوق مخښې ته ایږدی چه هغه سمندرونه مسخر کړې دی دپاره ددې چه کشتې په کښې برابرې ځی راځی. لوې لوې کشتې په سمندر کښې داسې معلومیږی لکه په زمکه اوچت غرونه.دا کشتې د اخوادیخوا بوتلو والا هواګانې دهغه په قبضه کښې دی که هغه اوغواړی نوداهواګانې به بندې کړی نو بیا خو به بادبانونه بیکاره شی او کشتې به اودریږی.هرهغه کس چه په سختو کښې دصبر او په آسانو کښې دشکرعادی وی نو هغه دپاره خودیرد عبرت ځائ دې هغه رب لوې قدرت او لوې سلطنت د هغه د.دې نښو نه پیژندې شی او څنګه چه هواګانې بندول او اودرول د هغه په لاس کښې دی دغه شان د ا د غرونو په شان لوې کشتئ په یو ساعت کښې ډبول هم د هغه په لاس کښې دی .که هغه اوغواړی نو د کشې والو دګناهونو په وجه به هغوئ غرق کړی،اوس خو هغه د ډیرو ګناهونونه درګزرکوی.او که په ټولو ګناهونو ئې اونیول نو چه څوک هم که په کشئ کښې کیناستل نیغ به په سمندر کښې ډوب شی خو دهغه د حد نه زیات رحمت هغوئ یوطرف نه بل طرف ته بوزی.د تفسیر علماء دا هم فرمائ که هغه اوغواړی نوهم دا هوا به نا موافقه کړی اوډیره تیزه سیلئ به اوچلوی چه کشتې به په نیغه لاره نه څی اخوا دیخوا به شی او نه به سنبالیږی اوکوم خوا چه تلل غواړی لاړه به نه شی اودغه شان حیرانه پریشانه به کشتې والا تباه شی . غرض داچه که بند ئې کړی نو په ولاړه ولاړه به ناکام شی او که تیزه ئې کړی نو هم ناکاره .خو دا صرف دهغه لطف وکرم دې چه خوشګوارموافق هواګانې چلوی او لوې لوې سفرونه ددې کشتو په وجه خلق کوی اوخپل مقصدونه پوره کوی.هم داحال د اوبو دې که چرې بالکل نه وروی خشك سالی شی نو دنیابه تباه شی اوکه ډیر زیات اووروی نو ترسالی به یو څیزهم پیدا کیدو ته پریږ نه دی او ټوله دنیا به هلاکه شی.ورسره ورسره د باران د زیات والی په وجه د کورونو دغورزیدلو اودپوره بربادئ سبب به جوړشی.تردې پورې چه د الله په مهر بانې سره چه په کوم کوم ښارونو او زمکو باندې زیات باران پکار .دې هلته زیات باران کیږی او چه چرته کم پکار وی هلته کم .

بیا فرمائ چه زمونږ په نښو کښې جګړو والا په داسې موقعو باندې خو منی چه هغوئ زمونږ د قدرت نه بهر نه دی که مونږ چرې انتقام اخستل اوغواړو مونږ عذاب ورکول اوغواړو نو هغئ بچ کیدې نه شی ټول زمونږ د قدرت او خوښې لاندی دی.

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ
پس هغه چی درکړې شوې دې تاسو ته
غرض دا چې څه تاسو ته

Scanned with Ca

مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ

څه څیز | پس هغه سامان دی | دژوند ددنیا | او هغه چی دالله سره دی | هغه بهتر دی |

درکړې شی |هغه تش ددنیا ساز وسامان دی|او الله ﷻ سره چې کوم نعمتونه دی هغه غوره او باقی پاتې کیدونکی

وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ

او باقی پاتې کیدونکی دی | دپاره دهغه کسانو | چی ایمان ئې راوړې وی | او په رب خپل باندې |

نعمتونه دی | هغه نعمتونه دهغه چا دپاره دی | چې ایمان راوړی او په خپل رب

يَتَوَكَّلُوْنَ ۚ وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ

بروسه کوی | او دپاره دهغه کسانو | چی څان ساتی هغوئ | دغټو ګناهونو نه |

باندې بهروسه کوی | اوخوک چې د لویو لویو ګناهونو او دبې شرمئ د خبرونه

وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ۚ

او دبې حیایئ دکارونو نه | او هر کله چی | غصه شی هغوئ | نو هغوئ معاف کول کوی |

څان بچ ساتی | اوکله چې هغوئ غصه شی نو معافی کوی

وَالَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۪ وَاَمْرُهُمْ

او دپاره دهغه کسانو | چی حکم منی | درب خپل | او قائیموی مونځ |اوکار(معاملات) دهغوئ

او خوک چې دخپل رب حکم منی | اودمونځ پابندی کوی| اوهرکار پخپلو کښې

شُوْرٰى بَيْنَهُمْ ۪ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

په مشوره سره وی | په منځ دهغوئ کښی | او څینی دهغه رزق نه | چی ورکړې دی مونږ هغوئ ته |

په مشورې سره کوی | اومونږ چې څه ورکړی دی دهغې نه (دالله په لار کښې) خرڅ

يُنْفِقُوْنَ ۚ وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ

خرچ کوی |او دپاره دهغه کسانو | کله چی | اورسی هغوئ ته | ظلم زیاتی | نو هغوئ |

کوی | اوداسې خلق چې ظلم زیاتی پرې اوکړې شی نوپه برابر بدله اخلی (ظلم نه کوی)

يَنْتَصِرُوْنَ ۚ

مقابله کوی دهغې |

قوله تعالی:: فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا"

ددنیا مذمت :الله ﷻ ددنیا بې قدری او ددې دحقارت بیان اوفرمائیلو چه ددې جمع کولو سره چا له پرسیدل نه دی پکار څکه چه دایو ختمیدونکې څیز دې بلکه د آخرت طرف ته رغبت پکاردې په نیکو اعمالو سره ثواب جمع کول پکار دی چه همیشه او باقی پاتې کیدونکې څیز دی . پس باقی له په فانی باندې اوکم له زیات باندې ترجیح ورکول عقلمندی نه ده . اوس ددې ثواب د حاصلولو طریقې خودلې شی چه ایمان مضبوط وی چه دنیاوی مزې پریخودو باندې صبر آسان وی په الله ﷻ کامل بهروسه وی چه په صبر باندې دهغه امداد ملاوشی او دالله ﷻ احکام پوره کول اود نافرمانو نه بچ کیدل آسان شی. لویو ګناهونونه او فحش کارونو نه پرهیز پکاردې ددې جملې تفسیر په سوره اعراف کښې تیرشوې.

Scanned with Ca

دي . په غصه قابو موندل پکار دی چه عین دغصې اودغضب حالت کښې هم دښه اخلاقو اودمعافۍ عادت پرې نه دی ځکه چه په صحیح حدیث کښې دی چه رسول اللهﷺ چرې هم دخپل نفس بدله د چا نه نه ده اخستې.او که دالله ﷻ د احکامو بې عزتی او بې ادبی کیږی نو هغه بله خبره ده(۱)او په حدیث کښې دی چه ډیرې زیاتې غصې په حالت کښې هم د رسول اللهﷺ په ژبه مبارك ددې نه سوا نور الفاظ نه وتل چه فرمائیل به نې چه ده ته څه شوې دی . ددې لاسونه دې د خورو ډك شی(۲)حضرت ابراهیم فرمائی چه د مسلمان ذلیله کیدل خو به نې نه ښوخول خو که غالب به شو نو انتقام به نې نه اخستلو اومعاف به ئې کړو.د دوئ بل صفت دا دې چه دوئ د الله ﷻ حکم منی اودرسول ﷺ اتباع کوی د څه چه هغه حکم کوی دوئې هغه پوره کوی د څه نه چه هغه منع کوی د هغې نه منع کیږی.دمونځ پابندی کوی چه د ټولو نه اعلی عبادت دې .

اهل علم سره مشوره کول :په لوې لوې کارونو به ئې بغیر خپلو کښې دمشورې نه نه شروع کولو پخپله رسول الله ﷺ ته د الله حکم کیږی چه ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾یعنی دوی سره مشوره کوه ددې وجې د حضورﷺ عادت مبارکه وو چه دجهاد وغیره په موقع باندې به نې خلقو سره مشوره کوله چه د دوی زړونه خوشاله شی او په دې بنیاد باندې حضرت عمر کله چه هغه زخمی کړې شو او د مرګ وخت نې رانزدې شو شپږ کسان مقرر کړل چه دوئ دې په خپله مشوره څوك زما جانشین مقرر کړی ددې شپږو بزرګانو نومونه دادی عثمان ﷺ ،علیﷺ، طلحهﷺ ، زبیرﷺ، سعدﷺ او عبد الرحمن بن عوفﷺ. پس ټولو په اتفاق رائې حضرت عثمان خپل امیر مقرر کړلو . بیا دهغوئ چه د هغوئ د پاره دآخرت تیاری او د هغه ځائې ثوابونه دی یو بل وصف نې بیان کړو چه چرته د احق الله ﷻ ادا کوی هلته دخلقو د حقونو په ادا کولوکښې کمی هم نه کوی .په خپل مال کښې دغریبانانو حصه هم ساتی او درجه په درجه دخپل طاقت مطابق هر چه سره ښه سلوك او احسان هم کوی.او دوی داسې بې همته او ذلیله هم نه وی چه ظالم دظلم نه نه منع کوی بلکه دومره طاقت خپل ځان کښې ساتی چه د ظالمانو نه انتقام واخلی او مظلوم ته د هغه د پنجې نه نجات ورکړی .

قوله تعالی:: يَنْتَصِرُونَ

لیکن که دخپل ښه سړی توب په وجه غالب راشی او بیا ئې پریږدی.لکه څنګه چه د الله نبی حضرت یوسف ﷺخپل رونړو باندې قابو اوموندله او وې فرمائیل چه څئې زه تاسو ته هیڅ بد رد نه وایم بلکه زما خواهش دې اودعا ده چه الله ﷻ د ې هم تاسو معاف کړی.او لکه څنګه چه رسول الله په حدیبیه کښې کړی وو چه اتیا کافرانو چه دغفلت موقعه ئې اوموندله او چپ چاپ د مسلمانانو په لښکر کښې رانوتل او او نیولې شول کله چه د نبی ﷺ په خدمت کښې پیش کړې شو نو هغوئ دې ټولو له معافی ورکړله او پرې نې خودل.

او لکه چه څنګه رسول الله غورث بن حارث معاف کړلو . دا هغه کس وو چه د رسول الله ﷺ د خوب په حالت کښې ده درسول الله ﷺ په توره قبضه کړې وه کله چه هغوئ راپاسیدل او دې ئې اورټلو او توره ددې د لاسه اوغورزیدله او نبی ﷺ توره راواخستله او هغه مجرم سر خکته کړې د رسول الله ﷺ مخښې ته اودریدو رسول الله ﷺ صحابه راووغوستل دامنظر ئې ورته هم اوخودلو او قصه یې هم ورته واورولې بیا ئې هغه معاف کړو او پرینښخودو(۳)دغه شان لبید بن اعصم چه کله په رسول الله ﷺ

---

[1])صحیح بخاری کتاب المناقب صفة النبی ﷺ :۳۵۶۰. صحیح مسلم: ۲۳۲۷.

[2])صحیح بخاری کتاب الادب باب لم یکن النبی ﷺ فاحشاولا متحشا:۶۰۳۱.

[3]) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوات ذات الرقاع : ۴۱۳۵، صحیح مسلم:۸۴۳.

Scanned with Ca

جادو اوکړو نو باوجود د علم او قدرته رسول الله ﷺ هغه معاف کړلو(۱) او دغه شان چه کومې یهودنې ښځې رسول الله ته زهر ورکړی وو رسول الله ﷺ د هغې نه هم بدله وانه خسته.په هغې باندې د قابو موندلو او د علم باوجود رسول الله ﷺ دا لویه واقعه معمولی اوګڼله.د دغې ښځې نوم زینب وو دا د مرحب یهودی خور وه چه په غزوه خیبر کښې دحضرت محمود بن سلمه په لاس قتل شوې وو.دې د چیلۍ د مخکښې پتون په غوښه کښې زهر ملاو کړی وو او پخپله ئې رسول الله ﷺ ته راوړی وو پخپله پتون رسول الله ﷺ ته د زهرو خبر ورکړې وو هر کله چه رسول الله ﷺ هغه راوغوسته او تپوس ئې تری اوکړو نوهغې اقرار اوکړو او وجه ئې دا بیان کړې وه که تاسو ربښتنې نبی وې نو تاسو ته به ئې هیڅ نقصان نه رسوو اوکه تاسو پخپله دعوی کښې دروغژن وې نو مونږ ته به تاسو نه آرام ملاو شوې وې د دې د معلومیدو او د هغې دجرم اقرار کولو باوجود د الله رسول هغه پریخودله او معاف ئې کړله. اګر چه بیا هغه قتل کړې شوه(۲) ځکه چه د دغې زهرو په خوړلو حضرت بشر بن براء ؓ وفات اوشو نو قصاصادا یهودنړه ښځه قتل کړې شوه.نورهم دحضور ﷺ داسې ډیر واقعات دی.

وَجَزٰٓؤُا	سَيِّئَةٍ	سَيِّئَةٌ	مِّثْلُهَا ۚ	فَمَنْ
او بدله	دبدئ	بدی ده	په مثل دهغې	پس چاچې
اودبدئ بدله هم هغه شان په بدئ سره ورکول دی				.....خوڅوک چې
عَفَا	وَاَصْلَحَ	فَاَجْرُهٗ	عَلَى اللّٰهِ ؕ	اِنَّهٗ	لَا يُحِبُّ
معافی اوکړه	او اصلاح ئې اوکړه	پس اجر دهغې	په الله باندې دې	بیشکه هغه	نه خوښوی
معافی اوکړی	اواصلاح اوکړی	نود هغه اجر دالله ﷻ سره دې		بیشکه الله تعالی	ظالمان نه
الظّٰلِمِيْنَ ۝	وَلَمَنِ انْتَصَرَ			بَعْدَ ظُلْمِهٖ	
ظالمان	او خامخا هغه څوك چې بدل ئې واغستو			روستو دظلم کیدونه په هغه باندې	
خوښوی	..... اوچا چې د مظلوم کیدو نه پس دهغې				
فَاُولٰٓئِكَ	مَا عَلَيْهِمْ	مِّنْ سَبِيْلٍ ؕ ۝	اِنَّمَا	السَّبِيْلُ
نو دغه کسان چې دی	نشته په هغوئ باندې	څه لار دملامتیا	بیشکه	لار دملامتیا
هومره بدله واخسته	نو په هغه کسانو هیڅ الزام ملامتیا نشته		ملامتیا خو بس په هغه چا راڅې	
عَلَى الَّذِيْنَ	يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ	وَيَبْغُوْنَ	فِي الْاَرْضِ	
په هغه کسانو باندې ده	چې ظلم کوی په خلقو باندې	او زیاتي کوی	په زمکه کښې	
چې په خلقو باندې زیاتي کوی	اوناحقه په زمکه کښې فساد خوروی			
بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ	اُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝	وَلَمَنْ
په ناحقه سره	دا کسان چې دی	دهغوئ دپاره دې	عذاب دردناك	او خامخا هغه څوك
داسې خلقو دپاره دردناک عذاب مقرر دې				.....اوڅوک چې

(۱) صحیح بخاری کتاب الطب باب السحر : ۵۷۶۳، صحیح مسلم:۲۱۸۹.
(۲) صحیح بخاری کتاب الجزیة باب اذا غدالمشرکین بالمسلمین: ۳۱۶۹، ابوداود: ۴۵۱۰.

Scanned with Ca

صَبَرَ	وَغَفَرَ	إِنَّ ذٰلِكَ	لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿۴۳﴾	
چې صبر نې اوکړو	او معافی نې اوکړه	بیشکه دا کار	خامخا دغوره کارونو نه دي	
صبر اوکړی	اومعافی اوکړی	نودا ډیر د اوچتو کارونو څنې دي	اوکوم سړي	

قوله تعالى:: وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا

د چا تکلیف رسولو باندې بدله او معافی : ارشاد دي چه د بدې بدله اخستل جائز دی . لکه چه نې اوفرمائیل ﴿فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ﴾ یو بل آیت کښې دی ﴿وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ﴾ ددې ټولو آیتونو مطلب هم دا دي .خو افضلیت هم په دې کښې دي چه معاف دې کړی . لکه څنګه چه فرمان دی ﴿وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ﴾ یعنی د خاص ز خمونو هم بدله ده بیا څوک چه هغه معاف کړی نو هغه به هغه د پاره کفاره جوړه شی . دلته نې هم اوفرمائیل چه څوک معاف کړی اوصلح صفائی اوکړی د هغه اجر په الله ﷻ دي . په حدیث کښې دی د درګزر کولو په وجه الله ﷻ د بنده عزت نور هم زیاتوی (۱) خو چه څوک په بدله کښې د اصل جرم زیات شی نو هغه د الله دشمن دي بیا به د بدې ابتدا د ده د طرف نه ګنړلې شی

قوله تعالى:: وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ

دظلم بدله اخستل جائز دی ::بیا فرمائی چه په چا باندې ظلم اوشو هغه باندې په بدله اخستو کښې هیڅ ګناه نشته.ابن عون فرمائی زه ددې لفظ انتصر د تفسیرپه تکل کښې ووم چه ما ته علی بن زید بن جدعان دخپل مور ام محمد په روایت چه حضرت عائشې ؓ له به ډیره تله راتله هغې بیان کړلو چه یو خل حضور ﷺ حضرت عائشې له تشریف بوړو دغه وخت حضرت زینب هلته موجود وه رسول الله ﷺ ته معلوم نه وه کله چه هغوئ عائشې ته لاس ورنزدې کړو نو هغې په اشارې سره اوښودل.دغه وخت حضور ﷺ خپل لاس روستو کړو.حضرت زینب حضرت عائشې ته بد رد شروع کړل دحضور ﷺ په منع کولوهم منع نه شوه نو حضور ﷺ حضرت عائشې ته اجازت ورکړو چه جواب ورکړه . بیا خو چه کم جواب هغې ورکړو نو حضرت زینب عاجزه شوه او نیغه حضرت علی ؓ له لاړه او وې وئیل چه حضرت عائشه تاسو ته داسې داسې وانی اوداسې داسې کوی (۲).

دا نې چه واوریدل حضرت فاطمه دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه . نبی ﷺ هغې ته اوفرمائیل د کعبې په رب قسم زه عائشې سره محبت کوم هغه خو هغه وخت واپس لاړه او حضرت علی ؓ ته یې ټوله قصه واورولې بیا حضرت علی ؓ راغې او نبی ﷺ سره یې خبرې اوشوې .

دا روایت په ابن جریر کښې دغه شان دی خو ددې راوی په خپل روایتونو کښې عموما منکر حدیثونه راوړی اودا روایت هم منکر دي. نسائی او په ابن ماجه کښې داشان دی چه حضرت زینب د غصې نه ډکه بغیر اطلاع د حضرت عائشې کور ته لاړله او حضور ﷺ ته یې د حضرت عائشې په باره کښې څه اووې بیاحضرت عائشې سره په جنګ شوه خو حضرت عائشې خاموشی اختیار کړه.کله چه هغې اووې نو نبی ﷺ حضرت عائشې ته اوفرمائیل ته خپله بدله واخله.بیا خو چه حضرت عائشې کوم جوابونه ورکول شروع کړل هغې سره د حضرت زینب لاړې اوچې شوې هیڅ جواب یې ورنکړی شو . او د حضور ﷺ د مخ مبارک نه هغه صدمه لرې شوه (۳)غرض مختصر دا چه مظلوم دي ظالم له جواب ورکړی او بدله دي تري واخلی. په بزاز کښې دی چه د ظالم دپاره چا بد دعا اوکړه هغه بدله واخستله .

---

(۱) ددې په شان روایت صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب استحباب العفو والتواضع : ۲۵۸۸ کښې دي .

(۲) ابوداود کتاب الادب باب فی الانتصار :٤٧٩٨ ، .

(۳) ابن ماجه کتاب النکاح باب حسن معاشرة النساء:١٩٨١، وهو حسن. ٩٧/٦، الادب المفرد:٥٥٨.

Scanned with Ca

هم دا حدیث په ترمذی کښې دې (۱) خو ددې په راوی کښې کلام دې
بیافرمائی چه حرج او گناه په هغه خلقو ده چه په خلقو ظلم کوی اوپه زمکه بغیر دځه وجې شر او فساد
خوروی.ځکه په صحیح حدیث کښې دی دوه کسان چه یو بل ته بد رد وائی د هغې ټولو بوج شروع
کولو والا باندې دې ترسو چه مظلوم د بدلې د حد نه ورتیر نه شی(۲)داشان فساد یان به د قیامت په
ورځ دردناك عذابونو کښې اخته کیږی.حضرت محمد بن واسع فرمانی زه مکې ته لاړم نو اومې لیدل
چه په خندق باندې پل جوړ شوې دې زه لا هلته وم چه گرفتار کړې شوم او امیر بصره مروان بن مهلب
له یې اورسولم هغه ما ته اووې ابو عبد الله ته څه غواړې ما ورته اووې دا چه که تا نه کیدې شی نو د
بنو عدی د رور په شان جوړ شه.تپوس یې اوکړو دا څوك دې؟ ما اووې علاء بن زیاد چه خپل یو دوست
یې یو خل په څه کار باندې عامل جوړ کړو نوهغه ته یې او لیکل چه د حمد وصلوة نه پس چه که تا نه
کیدښی نو دا کوه چه ستا ملا د بوج نه خالی وی ستا خیټه دې د حرام نه بچ وی ستا لاسونه د
مسلمانانو دوینې اومال نه آلوده نه وی.کله چه ته دا کوې نوتاباندې به دهیڅ یو گناه لاره پاتې نه شی.
دا لاره خوهغه خلقو باندې ده چه په خلقو ظلم کوی او بغیردځه وجې په زمکه کښې فساد خوروی .
مروان اووې الله ته پته ده ده رشتیا اووې او دخیر خواهې خبره یې اوکړه ښه اوس څه غواړې ؟ وې
فرمائیل دا چه ته ما خپل کور ته اورسې.مروان اووې ډیره ښه ده.پس د ظلم اود ظلم والو دمذمت
بیانولوسره د بدلې اجازت او اوس افضلیت طرف ته رغبت ورکولو د پاره فرمائی چه څوك تکلیف
برداشت کړی او بدې معاف کړی ده ډیر د بهادرئ کار اوکړو چه په هغې باندې هغه د ډیر ثواب او د
پوره بدلې مستحق دې .د حضرت فضیل بن عیاض فرمان دې چه تا ته یو کس د بل کس شکایت
اوکړی نوهغه ته نصیحت اوکه چه روره دې معاف که په معافې کښې بهتری ده او دا دپرهیز گاری
ثبوت دې که چرې هغه اونه منی او دخپل زړه د کمزورې اظهار اوکړی نو بیا ورته وئیلې شی چه لاړ
شه او بدله تړې واخله خو په دې صورت کښې چه داسې نه وی چه ته زیات شې ورنه مونږ خو اوس هم
دا وایو چه معاف یې کړه د ا درواز ه ډیره وسعت والا ده او د بدله لاره ډیره تنګه ده . واوره معاف
کولو والا خو په آرام خوږ خوب کښې اوده شی او بدلې اخستو والا شپه ورځ په سوچ کښې وی او کری
ربیی چه څه به کوم. په مسند احمد کښې دی چه یو کس حضرت ابو بکر ﷺ ته بد رد وئیل شروع کړل
حضور ﷺ هم هلته تشریف فرما وو هغوئ مسکې شول حضرت صدیق ﷺ خاموش وو خو چه کله هغه
ډیرې کنځلې اوکړې نو هغوئ هم د بعضو جواب ورکړو په دې باندې حضور ﷺ خفه شو او دهلته نه
لاړو.حضرت ابوبکر ﷺ دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض یې او کړو چه یا رسول الله ﷺهغه
ما ته بد رد وئیل او تاسو ناست وې اوریدل مو او کله چه ما دهغه یو دوو خبرو جواب ورکړو نو تاسو
په ناراضتیا سره پاسیدې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل واوره هر کله چه ته خاموش وې نو یوې فرښتې ستا د
طرف نه جواب ورکولو کله چه تا په خپله جواب ورکړو نو فرښته اخوا شوه او شیطان مینځ کښې راغلو
نو بیا دشیطان په موجودګي کښې زه څنګه پاتې کیدې شوم . بیا یې اوفرمائیل واوره ابو بکر ﷺ دری
څیزونه بالکل برحق دی ① چا باندې چه څه ظلم اوشی او هغه یې معاف کړی ضرور به الله هغه له
عزت ورکوی او د هغه مدد به کوی② کوم کس چه د سلوك اود احسان درواز ه کولاو کړی او د صله
رحمې په اراده خلقوله ورکوی الله ﷻ به ورله برکت ورکړی او زیات به ورکړی③او څوك چه د زیاتوالی
د پاره د سوال درواز ه کولاو کړی ددې دپاره هغه خلقو نه غواړی الله ﷻ به هغه لره بې برکتی ورکړی

---

۱) ترمذی کتاب الدعوات باب من دعا علی من ظلمه فقد انتصر: ۳۵۵۲..
۲) صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب النهی عن السباب : ۲۵۸۷، ابوداود:۴۸۹۴.

Scanned with Ca

او په کمی کښې به ئې مبتلا ساتی.(۱) دا روایت په ابو داود کښې هم دی او د مضمون په اعتبار ډیر ښکلی حدیث دی.

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ وَّلِيٍّ	مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ	
او هغه څوک چې ګمراهه کړی هغه لره الله	پس نشته هغه لره	څوک دوست کارساز	روستو دهغه نه	
چې الله ﷻ ئې ګمراه کړی	نو د هغۀ نه پس د هغه دپاره بل هیڅوک کارساز نشته			
وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ	لَمَّا رَاَوُا	الْعَذَابَ	يَقُوْلُوْنَ	هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ
او ته به اووینې دا ظالمان	هر کله چې اووینی هغوئ	عذاب	چې وائی به	آیا شته واپس تلونه
اوته به ظالمان اووینی کله چې هغوی عذاب اووینی	نو دا به وائی چې آیا (دنیا) ته د واپس			
مِّنْ سَبِيْلٍ ۚ	وَتَرٰىهُمْ	يُعْرَضُوْنَ	عَلَيْهَا	
څه لار	اوته به اووینې هغوئ	چې وړاند به کړې شی	په دغه وور باندې	
تلو هم څه صورت شته ؟	اوته به هغوی اووینې چه جهنم ته به وړاندې کولې شی			
خٰشِعِيْنَ	مِنَ الذُّلِّ	يَنْظُرُوْنَ	مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ	
حال دا چې یریدونکی به وی	د ذلت نه	اوګوری به (دوزخ ته)	په کتلو پټو سره	
د ذلت په وجه به سر ټیټ ولاړ وی	.....	او پټ پټ به جهنم ته ګوری		
وَقَالَ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ	الَّذِيْنَ	
اووائی به هغه کسان	چې ایمان ئې راوړې دې	بیشکه تاونیان دی	هغه کسان	
اومومنان به وائی	چې حقیقت کښې هغه څوک تاوانیان شول	چې خپل ځانونه		
خَسِرُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	وَاَهْلِيْهِمْ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ	اَلَآ
چې په خساره کښې ئې واچول	خانونه خپل	او اهل خپل	په ورځ د قیامت	خبردار
اوخپل بال بچ ئې د قیامت په ورځ په تاوان کښې واچول	.....	یاد ساته !		
اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ	فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ۝	وَمَا كَانَ لَهُمْ	مِّنْ اَوْلِيَآءَ	
بیشکه ظالمان خلق	به په عذاب همیشه کښې وی	اونۀ به وی هغوئ لره	څوک سرپرستان	
چې بیشکه ظالمان به همیشه په عذاب کښې پراته وی	اود هغوئ به د الله ﷻ نه			
يَّنْصُرُوْنَهُمْ	مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ	وَمَنْ	يُّضْلِلِ اللّٰهُ	
چې امداد اوکړی دهغوئ	په مقابله د الله کښې	او هغه څوک	چې ګمراهه ئې کړی الله	
سوا هیڅوک مددګار نه وی	چې دهغوئ مدد اوکړی	اوڅوک چې الله ﷻ ګمراه کړی		
فَمَا لَهٗ	مِنْ سَبِيْلٍ ۝			
پس نشته هغه لره	څه لار د بچګیدو			
نو هغه دپاره (دهدایت) هیڅ لار نشته				

(۱) احمد: ۴۳۶/۲، ابوداود کتاب الادب باب فی الانتصار: ۴۸۹۴، وهو حسن.

قوله تعالی:: وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ

الله ﷻ چې څوک ګمراه کړی نو هغه څوک نشی په لار کولې: الله ﷻ بیان فرمائی چه هغه څه غواړی هغه کیږی هغه څوک منع کولې نه شی اوڅه چه نه غواړی هغه نه کیږی اونه هغه څوک کولې شی. هغه چه چا ته اوغواړی نیغه لاره ورته ښائی هغه څوک ګمراه کولې نه شی او چا نه چه هغه نیغه لاره ورکه کړی هغه ته څوک لار نه شی ښودلې. یو بل ځائې فرمان دې ﴿وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا﴾ څوک چه هغه ګمراه کړی دهغه څوک مدد ګار اولار ښودونکې نشته .

قوله تعالی:: وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

دجهنم په لیدو د مشرکانو ارمان:: بیا فرمائی چه د ا مشرکان د قیامت عذابونه چه اوویني نو دوباره به دنیانه دراتلو ارمان کوی لکه چه بل ځائې دی ﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ﴾ کاش چه تا هغوئ لیدلې وې چه دوزخ سره به اودرولې شی او افسوس به کوی چه څومره ښه به وه چه مونږه دوباره واپس لیږلې شوې وې نومونږ به هیڅ چرې دخپل رب آیتونه دروغ نه ګنړو بلکه ایمان به راوړو. حق خو دا ده چه کوم څیز دې خلقو پټ کړې ووهغه د دې مخښې ته راغلو. خبره دا ده که دوئ دوباره هم اولیږلې شول نو بیا به هم هغه کوی د څه نه چه به منع کولې شو یقینا دا دروغژن دی.

قوله تعالی:: وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا

ظالمان به دوزخ سره حیرانه اوپریشانه وی :: بیا ئې اوفرمائیل چه دوی به جهنم ته نزدې راوستلې شی اوالله ﷻ دنافرمانو په وجه به په دوی ذلت خور شوې وی دعاجزې نه ټیټ وی اوغلې غوندې به دوزخ ته ګوری خو چهس د څه نه یریږی د هغې نه به بچ نه شی. نه صرف دومره بلکه د هغوئ د وهم و ګمان نه به هم زیات عذاب دوی ته ورکړې ورکیږی الله دې تړې مونږ محفوظ اوساتی . هغه وخت به ایمان والا خلق وائی چه حقیقي نقصان والا هغه خلق دی چا چه ځان سره خپل منونکی هم دوزخ ته بوتلل . چه نن د همیشنی نعمتونه نه محروم شول او هغوئ یئ هم محروم کړل . نن به هغه ټول بیل بیل عذاب کښې مبتلا وی دائمی ابدی او همیشنی سزاګانې زغمی . او دوی به نا امیده وی نن به څوک هم دوئ ددې عذابونو نه خلاصولو والا یا کمولو والا نه وی دا ګمراهان به خلاصولو والا څوک هم نه وی.

اِسْتَجِيْبُوْا	لِرَبِّكُمْ	مِّنْ قَبْلِ			
قبوله کړئ بلنه	درب خپل	مخکښې ددې نه			
تاسو دخپل رب د حکمونو قبولوالې کوئ اددې نه وړاندې					
اَنْ يَّاْتِيَ	يَوْمٌ	لَّا مَرَدَّ	لَهٗ	مِنَ اللّٰهِ ؕ	مَا لَكُمْ
چې راشی	هغه ورځ	چې نشته واپس کیدل	هغې لره	دطرفه دالله نه	نۀ به وی تاسو لره
چې هغه ورځ راشی	دالله ﷻ دطرف نه به دهغې واپس کیدل نه وی				په هغه ورځ به ستاسو دپاره چرته
مِّنْ مَّلْجَاٍ	يَّوْمَئِذٍ	وَّمَا لَكُمْ	مِّنْ نَّكِيْرٍ ۝	فَاِنْ اَعْرَضُوْا	
هیڅ ځائ دپناه	په دغه ورځ	اونۀ به وی تاسو لره	هیڅ انکار	اوس که چرې مخ واړوئ دوئ	
د پناه ځائې نه وی	اونه به (دفیصلې منلونه) انکار کولې شئ		که اوس هم دوئ (دقرآن نه) مخ واړوی		
فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ	عَلَيْهِمْ	حَفِيْظًا ؕ	اِنْ عَلَيْكَ	اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ	
پس نۀ ئې لیږلې مونږ تۀ	په دوئ باندې	په حیثیت دنګران	نشته په تا باندې	مګر رسونه	
نو مونږ ته په دوئ څه نګران نه ئې مقرر کړې	ستاسو په ذمه خو صرف پیغام رسول دی				

Scanned with Ca

وَاِنَّآ	اِذَآ	اَذَقْنَا	الْاِنْسَانَ	مِنَّا	رَحْمَةً	فَرِحَ
او بیشکه مونږه	کله چې	اوڅکوو مونږه	انسان ته	دطرفه زمونږ نه	رحمت	نو خوشحاله شی
اومونږ چې یو انسان باندې څه نعمت اوکړو		نو هغه په هغې باندې ځان ته غاوره شی				

بِهَا ؕ	وَاِنْ تُصِبْهُمْ	سَيِّئَةٌ	بِمَا	قَدَّمَتْ
په هغې سره	او که اورسیږی دوئ ته	څه مصیبت	په سبب دهغې عمل	چې مخکښې لیږلی وی
.....	اوکه چرې خلقو ته د هغه ګناهونو په وجه کوم چې هغوی کړی وی څه تکلیف اورسیږی			

اَيْدِيْهِمْ	فَاِنَّ الْاِنْسَانَ	كَفُوْرٌ ۝
لاسونو ددوئ	نو بیشکه انسان دې	ناشکره
نو هم دغه انسان ناشکری شروع کړی		

قوله تعالی:: اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ

د دوزخ نه د بچکیدو تدبیر :لکه څنګه چه اول ذکراوشو چه د قیامت په ورځ به لوې لوې هیبتناك واقعات وی هغه به سخته د مصیبت ورځ وی نو اوس دهغې نه یرولې شی او دهغې ورځې دتیارې د پاره فرمانی دهغه ورځې دراتلو نه مخکښې مخکښې دالله ﷻ په فرمان پوره پوره عمل اوکی.کله چه هغه ورځ راشی نوتاسوته به نه د پناه څه ځانې ملاویږی او نه داسې ځانې چه هلته تاسو نانجانړه داسې پټ شې چه نه مو څوك پیژنی او نه مو څوك اووینی .

قوله تعالی:: فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ

د نبی کریم ﷺ په ذمه صرف رسونه ده:: بیا فرمائی که دامشرکان نه منی نو ته په دوی باندې نګران نه یې جوړشوې هغوئ په هدایت باندې راوستل ستاپه ذمه نه دی داکاردالله ﷻ دې تاباندې صرف تبلیغ دې حساب به مونږ پخپله اخلو.د انسان حالت دادې چه په راحت کښې په مستې کښې شی او په تکلیف کښې ناشکره شی هغه وخت مخکښې نعمتونو نه هم منکر شی.په حدیث کښې دی چه حضورﷺ ښځو ته اوفرمائیل چه صدقه ورکوی ما تاسو په دوزخ کښې په زیات تعداد کښې لیدلی یئ چا تپوس اوکه دا په څه وجه ؟ نبیﷺ اوفرمائیل چه ستاسو د شکایت د زیاتی او د خاوندانو د ناشکرې په وجه .که چرې ته دوی سره یوې زمانې پورې د احسان معامله اوکې او بیا یو ورځ پریږدې نو دا ښځې وانی چه ما خو تا نه چرې هم څه راحت او آرام نه دې موندلی(۱) په حقیقت کښې د اکثرو ښځو دا حال دې خو چه په چا باندې الله رحم اوکړی او د نیکې توفیق ورکړی او حقیقی ایمان ورته نصیب کړی بیا خو د هغه دا حال وی چه هر راحت باندې شکر او هر تکلیف باندې صبر . پس په هر حالت کښې نیکی حاصلیږی او د وصف سوا د مومنانو نه بل چا کښې نه وی .

لِلّٰهِ	مُلْكُ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ؕ
الله لره ده	بادشاهی داسمانونو	او دزمکې
داسمانونو اودزمکې بادشاهی صرف دالله ﷻ ده		

(۱) صحیح بخاری کتاب النکاح باب کفران العشیر:۵۱۹۷ صحیح مسلم:۷۹.

Scanned with Ca

يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ

پیدا کوی هغه | هغه | چی غواړی | ورکوی | چاله چی غواړی | لونړه | او ورکوی |

هغه چې څه اوغواړی نو پیدا کوی نې | چې چاته اوغواړی لونړه ورکړی | اوچا ته چې اوغواړی نو

لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ۙ﴿۴۹﴾ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ

چاله چی غواړی | څامن | یا ورکوی هغوئ ته | څامن | او لونړه ګډوډ | اوګرزوی |

څامن ورته ورکړی | اویا ورته څامن اولونړه دواړه ورکړی | او چې چاته اوغواړی نو

مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ

هغه څوك چی غواړی | شنډ | بیشکه هغه | عالم دی | قادر دی | اونۀ دی دا مقام | د یوبشر |

شنډ ئې کړی | هغه په هر څۀ پوهه دی | او په هرڅه قادر دی | .....اود هیڅ بشر دا قدرت نشته

اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ

چی خبری اوکړی دهغه سره الله | مګر په وحی سره | یا شاته دپردی نه | یا رالیږی هغه |

چې الله تعالی دې ورسره خبرې اوکړی | البته دا چې وحی ورته اوکړی | یا ورسره د پردې نه اخوا خبرې اوکړی

رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ

پیغام رسانه فرښته | پس هغه وحی کوی | په حکم دهغه سره | هغه چی غواړی هغه | بیشکه هغه |

یا یوه فرشته راولیږی | نوهغه ورته دالله ﷻ په حکم هغه وحی راوړی کومه چې دالله ﷻ خوښه وی

عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿۵۱﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا

اوچت دی | دحکمت خاوند دی | او همدارنګې | وحی کړې دی مونږه | تاته | یو ورح |

الله ﷻ ډیر اوچت دی صاحب دحکمت دی | اودغسې مونږ تاته دا وحی یعنی خپل حکم

مِّنْ اَمْرِنَا ؕ مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ

دحکم خپل نه | نۀ وې ته | چی پوهیدلې | چی څه څیز دی کتاب | اونۀ ایمان |

درلیږلی دی | تا خو نه پیژندل چې کتاب څه څیز دی اونه دی ایمان پیژندل چې ایمان څه څیزدی

وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ

ولیکن | جوړ کړو مونږ نه ددغه روح | یوه رنړا | چی لار ښایو مونږ | په هغې سره | هغه چاته

لیکن مونږ دا (کتاب) رنړا جوړه کړه | او د دی په ذریعه مونږ پخپلو بندګانو کښې

نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ؕ وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۲﴾

چی غواړو مونږ | دبندګانوزمونږنه | اوبیشکه تۀ | خامخا هدایت کوی | لاری | نیغې ته |

چاته چې اوغواړونو هدایت کوو | او ته نیغې لارې طرفته خودنه کوې

Scanned with Ca

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیْ	لَهٗ	مَا فِی السَّمٰوٰتِ	وَمَا
لاره دهغه الله	چی هغه لره دی	هغه څه چی په آسمانونو کښی دی	او هغه څه
(یعنی) دهغه الله ﷻ لاره چې دآسمانونواو زمکې د ټولو څیزونو مالک دې			

فِی الْاَرْضِ ؕ	اَلَآ	اِلَی اللّٰهِ	تَصِیْرُ	الْاُمُوْرُ ۧ
چی په زمکه کښی دی	خبردار شئ	چی خاص الله ته	واپس ورځی	ټول معاملات
یاد ساتئ چې ټولې معاملې (جګړې او مقدمې) به الله ﷻ ته پیش کیږی (اوهغه به ئې فیصله کوی)				

قوله تعالی:: لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

هر قسمه پیدائش د الله په اختیار کښې دې :فرمانی چه خالق مالك او متصرف د زمکې اود آسمان صرف یو الله ﷻ دې هغه چه څه غواړی هغه کیږی چه څه نه غواړی هغه نه کیږی چا ته چه اوغواړی ورکوی اوچا ته چه اوغواړی نه ورکوی چه څه اوغواړی پیدا یئ کړی اوجوړ یئ کړی چا ته چه اوغواړی صرف جینکې ورکوی لکه حضرت لوط ﷺ ته او چا ته چه اوغواړی صرف هلکان ورکوی لکه حضرت ابراهیم ﷺ ته او چا ته چه اوغواړی هلکان اوجینکې دواړه ورکوی لکه حضرت محمد ﷺ او څوك چه اوغواړی لاولد یئ ساتی لکه حضرت یحیی او حضرت عیسی علیهما السلام .

دمخلقو څلور قسمه پیدائش::بس دا څلور قسمه شو جینکو والا هلکانو والا دواړو والا او د دواړو نه خالی. هغه علیم دې هرمستحق پیژنی.قادر دې څنګه چه غواړی فرق ساتی.بس دا مقام دالله ﷻ د هغه فرمان په مثل دې کوم چه دحضرت عیسی ﷺ په باره کښې دې چه ددې وجې مونږ هغه دخلقو دپاره نمونه جوړکو یعنی دقدرت دلیل ئې جوړکو اواوښایو چه مونږ مخلوق په څلورقسمه جوړ کړېدې . حضرت آدم ﷺ صرف د خاورې نه پیدا شو نه مور نه پلار.حضرت حوا صرف د نارینه نه پیدا شو. باقی ټول انسانان د سړی اوښځې نه سوا دحضرت عیسی ﷺ نه چه صرف هغه د ښځې نه بغیر د سړی نه پیدا شوه . پس د رسول الله ﷺ په پیدائش دا څلور واړه قسمونه پوره شو لهذا دا مقام د مور پلار په باره کښې وواو هغه مقام د اولاد په باره کښې ددې هم څلور قسمه او دهغې هم څلور قسمه . سبحان الله دا دې د هغه الله د علم او د قدرت نښې .

قوله تعالی::اِلَّا وَحْیًا

د وحی مختلف صورتونه :د وحی د مقامات،مراتب او کیفیاتو باره کښې بیان دې چه کله خو به د رسول الله ﷺ په زړه کښې وحی واچولې شوه چه د هغې په وحی الهی کښې به هغوئ ته هیڅ شك نه وو لکه چه د صحیح ابن حبان په حدیث کښې دی چه روح القدس زما په زړه کښې دا خبره راپوکلې ده چه هیڅ یو کس هم ترسو چه خپل رزق او وخت پورا نه کړی هیڅ چرې نه مری.ددې وجې د الله نه یریږی او د رزق په طلب کښې ښه لاره اختیاروئ(۱) یاپردې په شا لکه چه حضرت موسی ﷺ سره کلام اوشو خکه چه هغوئ کلام واوریدو نو جمال کتل یئ اوغوښتل خو الله رب العزت په پرده کښې وو.رسول الله ﷺ حضرت جابربن عبد الله ﷺ ته فرمائیلې وو چه الله ﷻ چاسره هم کلام نه دې کړې خود پردې شاته خو ستا پلارسره یئ مخامخ کلام کړې دې (۲) دې احد په غزا کښې د کافرانو په لاس شهید شوې وو.خو دا دیادساتلوخبره ده چه دا کلام د عالم برزخ دې اوچه دکوم کلام ذکردې د هغې نه ددنیا کلام مراددې .

---

(۱) حاکم :۴/۲ لم اجده عند ابن حبان ورواه البغوی فی شرح السنة: : ۴۱۱۲، والقضاعی فی مسند الشهاب: ۱۱۵۱.

(۲) ترمذی کتاب تفسیر القران باب و من سورة آل عمران :۳۰۱۰، وسنده حسن ابن ماجه:۱۹۰.

Scanned with Ca

یاقاصد راولیږی اوخپله خبره هغه ته اورسوی لکه حضرت جبرئیل ﷺ وغیره فرښتې به د الله نبیانو له راتللې. هغه بلندې او بزرګې والا دې ورسره حکیم او حکمت والا هم دې. د روح نه مراد قرآن دې فرمائی چه دا قرآن مونږه ستا طرف ته د وحی په ذریعه رالیږلې دې. کتاب او ایمان تفصیل سره چه کوم مونږ په کتاب کښې کړې دې ته ددې نه مخکښې نه پوهیدې خو مونږ ه د قرآن نور جوړ کړې دې چه ددې په ذریعه مونږ خپل ایمان والا بندګانو ته نیغه لاره ښایو لکه چه بل آیت کښې دی ﴿قل للذین امنوا﴾ الخ اووایه چه دا د ایمان والو د پاره هدایت او شفا ده. او د بې ایمانو غوږونه کانړه او سترګې رندې دی. بیا فرمائی چه ای نبی ﷺ ا ته د الله لارې او حق طرف ته رهنمائی کوه او بیا ئې د صراط مستقیم تشریح اوکړه او وې فرمانیل د شرع مقررولو والا پخپله الله ﷻ دې چه دهغه شان دادې چه داسمانونو اود زمکو مالك دې اوالله ﷻ هغه دې په دې کښې تصرف کولو والا او حکم چلولو والا هم هغه دې څوك هم د هغه یو حکم منع کولې نه شی. تول کارونه هم هغه طرف ته واپس کیږی هم هغه د تولوکارونو فیصلې کوی او حکم کوی. هغه پاك او برتردې هر هغه څیز نه چه د هغه نسبت دا ظالمان اومنکران وائی. هغه اوچت او بلندې والا دې.

آیاتونه		سورة الزخرف مكية وهي تسع وثمانون اٰية وسبع ركوات		ركوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۸۹		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		۷

حٰمٓ ۝۱ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝۲ اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا

ح م | قسم دې په کتاب | واضحه باندې | بیشکه مونږه | جوړ کړې دې دا کتاب | قرآن |

حم په دې واضحه کتاب باندې قسم دې | مونږ دا د عربئ ژبې قران(په دې غرض جوړ کړې دې

عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝۳ وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ

دعربئ ژبې | دپاره ددې چې تاسو | پوهه شئ | او بیشکه دا قران | په اصل دکتاب کښې |

چې تاسو پرې پوهه شئ | او بیشکه دا قران پاك مونږ سره په لوح محفوظ کښې موجود دې

لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ۝۴ اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ

زمونږ سره | داوچتې مرتبې | او دحکمت نه ډك کتاب دې | ایا پس مونږه اوګرځوؤ | ستاسو نه |

داوچتې مرتبې کتاب دې او حکمت نه ډك دې | ایا مونږ به ستاسو نه دا د نصیحت (کتاب)

الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ۝۵

دا نصیحت | په ګرځولو سره | صرف په دې وجه چې یئ تاسو | یو قوم | دحد نه اوړیدونکی |

د دې وجې واړوو | چې تاسو داسې خلق یې چه د مناسب حد نه تیریدونکی یئ

وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ ۝۶ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ

او ډیر لیږلی دی مونږه | پیغمبران | په مخکینو خلقو کښې | اونۀ به راتلو هغوئ ته | یو پیغمبر |

اومونږ پخوانو خلقو ته څومره ډیر پیغمبران لیږلی وو ؟ | او دغې خلقو ته یو پیغمبر هم داسې نه وو

اِلَّا كَانُوْا	بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝	فَاَهْلَكْنَآ
مګر	ووئ هغوئ	چې په هغه پورې به ئې	توقې کولې
پس هلاک کړل مونږه هغه خلق			
راغلې چې هغوئ ورپورې توقې نه وې کړې		نومونږ هغه ټول خلق هلاک کړل	کوم چې
اَشَدَّ	مِنْهُمْ	بَطْشًا	وَّمَضٰى
مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ۝			
چې زیات سخت ووئ	ددوئ نه	په قوت کښې	او تیر شوی دی
مثالونه دمخکینو خلقو			
ددې خلقو نه طاقتور وو	اودغه شان سلوک د پخوانو ډیرو خلقو سره شوې دی		

قوله تعالی:: وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝

د قرآن نورانیت اوعظمت :د قرآن قسم یئ اوخوړلوچه واضح دې اوددې معنې بنکاره دی چه الفاظ یئ نورانی دی چه د ټولو نه زیاته فصیح اوبلیغ ژبه عربې کښې نازل شوې دې دا ددې د پاره چه خلق سوچ اوکړی اونصیحت او عبرت حاصل کړی.مونږ دا قرآن په عربې ژبه کښې نازل کړې دې .

څنګه چه بل ځائې کښې دی عربې واضح ژبه کښې مو دا نازل کړې دې.ددې شرافت او لویه مرتبه کومه چه عالم بالا کښې ده هغه بیان فرمائی چه زمکې والو ته د هغه منزلت او قدر معلوم شی . وې فرمائیل چه دا په لوح محفوظ کښې لیکلې شوې دې . لدینا نه مراد مونږ سره د لعلی نه مراد مرتبې والا عزت والا شرافت او فضیلت والا دې د حکیم نه مراد محکم او مضبوط چه د باطل د ملاویدو نه اودناحق سره د خلط ملط کیدو نه پاک دې یو بل آیت کښې د دې کلام پاک د بزرګې بیان په دې الفاظو سره دې ﴿انه لقران کریم﴾ یو بل ځائې دی ﴿كَلَّآ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ۝﴾ یعنی دقرآن کریم په لوح محفوظ کښې درج دې دې ته سوا د پاک فرشتو نه څوک لاس هم نه شی لګولې.دا درب العالمین د طرف نه نازل شوې دې.

او وې فرمائیل چه قرآن د نصیحت څیز دې د چا چه زړه غواړی قبول دې کړی . هغه په داسې صحیفو کښې دې چه معززې دی او اوچت درجې والا دی او مقدس دی چه د داسې لیکلو والا په لاس کښې دی چه عزت والا او پاکې دی.د دې دواړو آیتونو نه علماء استنباط کړېدې چه بې اودسه قرآن له لاس اوړل نه دی پکار لکه څنګه چه په یو حدیث کښې هم راغلې دی (۱) په شرط ددې چه هغه صحیح ثابت شی . ځکه چه په عالم بالا کښې فرښتې د دې کتاب ډیر عزت او تعظیم کوی په څه کښې چه دا قرآن لیکلې شوې دې د دې وجې په دې عالم کښې مونږ له بدرجه اولی د دې قرآن ډیر عزت او اکرام پکار دې ځکه چه دا زمکې والو د پاره رالیږلې شوې دې او د دې خطاب هم دوی ته دی نو دوی له د قرآن ډیر زیات ادب او تعظیم پکار دې او ورسره ورسره د دې احکام منل او په هغې عامل جوړېدل پکار دی.ځکه چه دالله ﷻ فرمان دې چه دا مونږ سره په ام الکتاب کښې دې او ډیر اوچت او حکمت والا دې.ددې نه پس د آیت خو یو معنی دا شوې ده آیا تاسو د ګنړلې ده چه د اطاعت او فرمان برداري نه کولو باوجود به مونږه تاسو پریږدو او تاسو ته به عذاب نه درکوو .

دویمه معنی داده چه ددې امت مخښکنو خلقو کله چه قرآن دروغ اوګنړل که هغه وخت دا قرآن اوچت کړې شوې وې نو ټوله دنیا به هلاک کړې شوې وه.خو د الله ﷻ وسیع رحمت دا خوښه نه کړله او برابر د شلو کالو نه زیاته مودې پورې دا قرآن نازلیدلو.ددې قول مطلب دادې چه داد الله ﷻ لطف او رحمت دې چه هغه د نه منونکو د انکار اود بد باطن خلقو د شرارت په وجه هغوئ ته نصیحت او وعظ کول نه

---

(۱) حدیث لا یمس القران ، طرفته اشاره ده . دارواية موطا امام مالک :۱۹۹/۱. وهو حدیث حسن کښې موجود دې .

Scanned with Ca

پریږدی ددې وجې چه په دوی کښې چه کوم نیکې والا دی هغه درست شی او چه کوم درست کیږی نه په هغوئ باندې حجت تمام شی .

قوله تعالی:: وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْأَوَّلِينَ ۝

نبی کریم ﷺ ته تسلی: بیا الله تبارك و تعالی خپل نبی محمد ﷺ ته تسلی ورکوی او فرمائ چه ته د خپل قوم په تکذیب مه یریږه صبر او تسلی ساته د دوی نه مخکښې چه کوم قومونه وو هغوئ له هم مونږ رسولان او نبیان لیږلې وو او دوی ټولو خپل خپل نبیانو سره تمسخر کړې وو بیا مونږه هغوئ هلاك کړل.هغوئ ستاسو د زمانې والا خلقو نه زیات زور والا او طاقت والا وو.لکه چه په بل آیت کښې دی آیا هغوئ په زمکه باندې او نه ګرځیدل او وې نه لیدل ؟ چه د دوی نه د مخکښینو خلقو څه انجام اوشو؟ چه د دوی نه په تعداد او په طاقت کښې ډیر وړاندې وو.د دې مضمون نور هم ډیر آیتونه دی .

بیافرمائی چه د مخکښینو خلقو مثالونه تیر شول یعنی د هغوئ عادتونه سزاګانې اوعبرتونه.لکه چه د دې سورت په آخر کښې یئ اوفرمائیل چه مونږ هغوئ تیر شوی خلق او د راتلونکو د پاره عبرت جوړ کړل . او لکه چه فرمان دې سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ یعنی د الله ﷻ طریقه چه د هغه په بندګانو کښې دمخکښې نه رارواته ده اوته به دا بدلیدو والا بیا نه مومې .

وَلَئِنْ	سَأَلْتَهُمْ	مَّنْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْأَرْضَ
او که چرې	تپوس اوکړې ته ددوئ نه	چې چا	پیدا کړی دی	آسمانونه	او زمکه
اوائې نبی ﷺ که ته د دوی نه تپوس اوکړې	چې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی				
لَيَقُوْلُنَّ	خَلَقَهُنَّ	الْعَزِيْزُ	الْعَلِيْمُ ۝	الَّذِيْ	جَعَلَ
نو خامخا به اووائی	چې پیدا کړی دی دا	غالب	او عالم الله	هغه (الله)	چې جوړه ئې کړه
نودوئ به خامخا اووائی	چې دازبردست او پوهه الله ﷻ پیدا کړی دی	هغه الله ﷻ			
لَكُمُ الْأَرْضَ	مَهْدًا	وَّجَعَلَ	لَكُمْ	فِيْهَا	سُبُلًا
ستاسو دپاره زمکه	زانګو	او جوړ ئې کړې	ستاسو دپاره	په هغې کښې لارې	
چې زمکه ئې فرش جوړه کړې ده	.....او ستاسو دپاره یې په دې کښې لارې جوړې کړې دی				
لَعَلَّكُمْ	تَهْتَدُوْنَ ۝	وَالَّذِيْ	نَزَّلَ	مِنَ السَّمَآءِ
دپاره ددې چې تاسو	دخپل منزل لار بیا مومئ	او هغه (الله)	چې نازلې ئې کړې	داسمان نه
چې تاسو خپل منزل مقصود ته اورسیږئی	او الله ﷻ هغه ذات دې چې د پورته نه ئې په اندازه اوبه			
مَآءً	بِقَدَرٍ	فَأَنْشَرْنَا	بِهٖ	بَلْدَةً مَّيْتًا	كَذٰلِكَ
اوبه	په خاص مقدار سره	پس ژوندئ کړه مونږه	په دې سره	زمکه مړه	همدارنګې به
راوورلې	.....نو بیا مونږ په هغې سره مړه زمکه راژوندئ کړه	هم دغه شان به تاسو			
تُخْرَجُوْنَ ۝	وَالَّذِيْ	خَلَقَ الْأَزْوَاجَ	كُلَّهَا	وَجَعَلَ
تاسو رااوویستې شئ	او هغه (الله)	چې پیدا ئې کړې جوړئ	ټولې	او جوړه ئې کړه
(دقبرونونه) راویستلې شئ	اوالله ﷻ هغه ذات دې	چې ټول څیزونه ئې جوړې پیدا کړی دی		

Scanned with Ca

لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ۙ﴿۱۲﴾
ستاسو دپاره	دکشتئ نه	او دځناورو نه	هغه ذریعه	چې تاسو پر سورلی کوئ	
اوستاسو دپاره ئې بیړئ او څاروی پیدا کړی دی	...چې تاسو پرې سورلئ کوئ
لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ
دپاره ددې چې تاسو برابر سواره شئ	په شاګانو دهغې	بیا تاسو یاد کړئ	نعمت د رب ستاسو	
دپاره ددې چې تاسو دهغې په شا برابر کینئ	اوکله چې پرې سوارۀ شئ	نو دالله ﷻ نعمت یاد کړئ
اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ
کله چې برابر کینئ تاسو	په هغې باندې	او اووایئ	پاک دی هغه ذات	چې تابع نې کړل	
اودا اووائې چې هغه ذات پاک دی	چې داسې (لوئې لوئې) مخلوق ئې زمونږ تابع کړی دی
لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ۙ﴿۱۳﴾ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا
دپاره زمونږه	دا څیزونه	اونۀ ووُ مونږه	دې لره	تابع کونکی	او بیشکه مونږه	رپ خپل ته	
.....	ګنې مونږ خو(په خپل طاقت) دا قابو کولې نه شو	او مونږ بۀ ټول خپل
لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾
خامخا واپس ورتلونکی یو	
رب ته واپس ورځو	

قوله تعالی:: وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
خالق کل بس یو الله دي :الله ﷻ فرمائی چه ای نبی!که ته د دې مشرکانو نه تپوس اوکړې نو دوی ددې خبرې اقرارکوی چه د زمکې اود آسمان خالق الله ﷻ دې بیا هم دهغه وحدانیت پیژنی او منی خو د هغه په عبادت کښې نور شریك جوړوی چا چه زمکه فرش،دقرار خانې،ولاړه اومضبوطه جوړه کړله چه تاسو پرې ګرځې راګرځې کینې پاسې او اوسیږې. حالانکه دازمکه پخپله په اوبو باندې ده خو مضبوط غرونه سره یئ دخوزیدو راخوزیدو نه رامنع کړې ده اوپه دې کښې یئ لاړې جوړې کړې دی چه تاسو د یو ښارنه بل ښار ته او یو ملك نه بل ملك ته اورسیږې.هم هغه د اسمان نه په دې انداز باران وروی چه کافی وی او پتې اوباغونه شنه شی او دا اوبه ستاسو اوستاسود څناورو په څکلو کښې هم راځی.بیا بیئ ددې باران په ذریعه مړه زمکه راژوندې کړه اوچه زمکه لامده شوه څنګلونه شنه شولو میوې او ګلونه راوټوکیدل او قسما قسم ښکلې میوې پیدا شوې .
بیایئ دا دلیل جوړ کړو د مړو انسانانو د ژوندی کیدو او وې فرمائیل هم دغه شان به تاسو د قبرونو نه راوباسلې شی.هغه هر قسمه جوړې پیدا کړلې فصلونه ګلونه سبزیانې او میوې وغیره قسما قسم څیزونه هغه پیداکړل.مختلف قسم څناور ئې ستاسو د فائدې دپاره پیدا کړل.کشتې ئې دسمندرد سفر دپاره اود اوچې د سفر د پاره ئې دځاروو انتظام اوکړلو چه په هغې کښې دډیرو څناورو غوښه تاسو خورې اوډیر تاسو ته پې شوده درکوی او ډیرستاسو دسورلې په کار راځی تاسو دپاره دبوج اوړلو کار هم کوی.تاسو په دې باندې سورلی کوې او ډیر په خوند په دې سوریږې.اوس تاسو له پکاردی چه کله تاسو په سورلې ښه په قلار کینې نو د خپل رب تعالی نعمتونه یاد کړې چه هغه څومره طاقت ور وجودونه ستاسو په قابو کښې کړل او داسې اووایې چه هغه الله ﷻ پاك ذات والا دې چا چه دا زمونږ په

Scanned with Ca

قابو کښې کړله که هغه دا زمونږه مطیع کړي نه وه نو مونږ ددې قابل نه وو اونه مونږ کښې دومره طاقت وو او مونږ خپل مرګ نه پس هم هغه طرف ته تلو والا یو .په دې آمدورفت او په دې مختصر سفرباندې د آخرت سفر رایاد کړي لمکه څنګه چه الله د دنیا دتوښې د ذکر کولو نه پس دآخرت د توښې طرف ته توجه ورکړله او وې فرمائیل چه توښه تیاروې خو غوره توښه د آخرت توښه ده او دنیوی لباس په موقعه یې د آخرت لباس طرف ته متوجې کړل او وې فرمائیل چه دتقوی لباس افضل اوبهتر دې .

قوله تعالی:: سُبْحٰنَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا

په سورلې باندې د سوریدو دعاګانې: په سورلې دسوریدو په وخت د دعاګانو حدیثونه ، حضرت علی بن ربیعه فرمائی چه حضرت علی﵁ چه کله په سورلې سوریدو نوخپه به په رکاب کیښودو سره اووې بسم الله کله چه ښه کیناستو نووې وئیل ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ ۝ وَاِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ۝﴾ بیا ئې دري ځله الحمد لله اووې او دري ځله الله اکبر اووې بیا ئې اووئیل ﴿سبحانك لااله الاانت قد ظلمت نفسی فاغفرلی﴾ بیا مسکې شو.ما تپوس اوکړو امیر المومنین تاسو ولې اوخندل؟وې فرمائیل مادرسول الله ﷺ نه دا تپوس کړې وو نو هغوې جواب راکړو کله چه دبنده د خلې نه الله ﷻ واوری چه هغه رب اغفرلی وائی یعنی اې زما ربه ما اوبخښې نو هغه ډیر زیات خوشالیږی او فرمائی چه زما بنده ته پته ده چه زما نه سوا څوك د ګناهونو بخونکې نشته دې .دا حدیث ابو داود ،ترمذی،نسائی،اومسند احمد کښې هم شته دې .امام ترمذی دې حدیث ته حسن صحیح وائی .

بل حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ حضرت ابن عباس﵁ په خپلې سورلې باندې ځان سره شاته کینوو چه ښه کیناسته نوهغوی﵁ دري ځله اووې الله اکبر او دري ځله ئې الحمد لله اووې او دري ځله ئې سبحان الله اووې او یو ځل ئې لا اله الا الله اووې بیا په سورلې باندې نیغ د ناستې د حالت په شان شو او وې خندل او حضرت عبد الله﵁ طرف ته متوجه شو او وې فرمائیل کوم کس چه په یو ځناور سور شی اوداسې اوکړی څنګه چه ما اوکړل نوالله ﷺ دهغه طرف ته متوجه شی اوهم دغه شان خاندی څنګه چه ما تا ته اوکتل او اومې خندل .(۱) مسند احمد

حضرت عبد الله بن عمر﵁ فرمائی چه رسول الله ﷺ به کله په خپله سورلې سوریدلو نو دري ځله به ئې تکبیراووې اوددوارو آیتونو تلاوت به ئې اوکړو بیا به ئې دادعا اوغوښتله ﴿اللهم انی اسئلك فی سفری هذا البر والتقوی ومن عمل ما ترضی اللهم هون علینا السفر واطولنا البعد اللهم انت الصاحب فی السفر والخلیفه فی الاهل اللهم اصحبنا فی سفرنا واخلفنا فی اهلنا﴾.یاالله زه ستا نه په دې خپل سفر کښې دنیکې او د تقوی طالب یم اودهغه اعمالو چه ته پرې خوشالیږې اې الله مونږ ته داسفر آسان کړې او زمونږ دا مسافت رالنډ کړې .اې ربه هم ته د سفر ملګرې اوداهل وعیالو نګهبان یې اې زما معبوده زما په سفر کښې زما مدد اوکه او په کورونو کښې زمونږ جانشین جوړ شه . اوکله چه هغوی﵁ د سفرنه واپس کورطرف ته راتلل نو فرمائیل به ئې ﴿آئبون تائبون ان شاءالله عابدون لربنا حامدون﴾ یعنی واپس راتلو والا توبه کولو والا ان شاءالله عبادت کولو والا د خپل رب تعریف کولو والا(۲).مسلم ابوداود نسائی وغیره .

ابولاس خزاعی﵁ فرمائی چه دصدقې په اوښانو کښې یو اوښ رسول الله ﷺ مونږ د سورلې د پاره راکو چه مونږه پرې حج له لاړشو.مونږ عرض اوکړو چه مونږ نه وینو چه تاسومونږه په دې باندې سوروی . هغوی﵁ اوفرمائیل دهر اوښ په کوهان کښې یوشیطان وی ته چه کله په دې سورشې نو څنګه چه څه حکم درکوم چه د الله نوم یاد کړې بیا دا سورلی دخان دپاره خادمه جوړه کړې یادساتې چه هم الله ﷻ

---

۱) احمد:۱/۳۳۰.

۲) صحیح مسلم کتاب الحج باب استحباب الذکر اذا رکب دابته.....:۱۳٤۲، ابوداود:۲۵۹۹، ابن حبان: ۲٦۹٦.

Scanned with Ca

سوروی(۱)(مسند احمد)دحضرت ابو لاس نوم محمد بن اسود بن خلف دي ﷺ .د مسند په یو بل حدیث کښې دی چه نبی ﷺ فرمائی چه د هر اوښ په شا یو شیطان وی نو چه تاسو کله په اوښ سورلی کوی نو د الله ﷻ نوم اخلی بیا په خپل حاجتونو کښې کمی مه کوی(۲).

وَجَعَلُوْا	لَهٗ	مِنْ عِبَادِهٖ	جُزْءًا ؕ			
او جوړ کړو دي کافرانو	هغه لره	د بندګانو	دهغه نه	ایوه حصه	یعنی اولاد	
او دوئ د الله ﷻ په بندګانو کښې هغه دپاره یوه حصه مقرر کړې ده						
اِنَّ الْاِنْسَانَ	لَكَفُوْرٌ	مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾	اَمِ اتَّخَذَ	مِمَّا		
بیشکه انسان	خامخا ناشکره دي	ښکاره	آیا اونیولي (خوښې کړې) الله	هغې نه		
حقیقت دا دي چې انسان ښکاره ناشکره دي	.....		آیا هغه دخپل مخلوق نه			
يَخْلُقُ	بَنٰتٍ	وَّاَصْفٰىكُمْ	بِالْبَنِيْنَ ﴿۱۶﴾	وَاِذَا		
چې پیدا کوی ئې هغه	لونړه	او غوره ئې کړې تاسو	په ځامنو سره	او هر کله چې		
ځان دپاره (هیله) لونړه خوښې کړې دی	او تاسو ئې په ځامنو سره غوره کړئ	او حال دادي				
بُشِّرَ	اَحَدُهُمْ	بِمَا	ضَرَبَ	لِلرَّحْمٰنِ		
زیرې ورکړې شی	یو ددوئ ته	په هغې اولاد سره	چې بیان کړې دي دوئ	دپاره درحمان		
چې څه وخت دوئ په هغه څیز خبر کړې شی	کوم چې دوئ د رحمن (الله ﷻ) دپاره					
مَثَلًا	ظَلَّ	وَجْهُهٗ	مُسْوَدًّا	وَّهُوَ	كَظِيْمٌ ﴿۱۷﴾	اَوَمَنْ
په مثال کښې	نوشی	مخ دهغه	تور	او هغه	ډك وی دغم نه	آیا هغه څوك
بیان کړی دی	نو (د غم او غصې د وجې) مخ ئې تور شی	او ډیر زیات غمژن شی	آیا هغه څوک چې په ډول			
يُّنَشَّؤُا	فِي الْحِلْيَةِ	وَهُوَ	فِي الْخِصَامِ	غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿۱۸﴾		
چې لویږي کیږی	په کالو کښې	او هغه	په جګړه کښې	نه شی بیانولې مدعا خپله		
کښې ساتلې شی	او په جګړه کښې په وضاحت سره دلیل نشی بیانولې	(هغه دنارینه سره برابر کیدیشی)				
وَجَعَلُوا	الْمَلٰٓئِكَةَ	الَّذِيْنَ	هُمْ	عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ	اِنَاثًا ؕ	اَشَهِدُوْا
اووې ګڼلې	فرښتې	هغه	چې هغوئ	بندګانې دخدائې دی	ښځې	آیا حاضر ووئ دوئ
او دوئ فرښتې چې د الله ﷻ بندګانې دی زنانه ګڼلې دی	نو آیا دوئ په هغه وخت کښې موجود وو					
خَلْقَهُمْ ؕ	سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ	وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۹﴾				
په وخت دجوړښت دهغوئ کښې ازر به لیکلې کیږی	ګواهی ددوئ	او تپوس به اوکړې شی ددوئ نه				
څه وخت چې هغوی الله پیدا کولې	ددوئ دا دعوې لیکلې شی	او تپوس به تړې کیږی				

۱) احمد: ۲۲۱/٤، وسنده حسن، مجمع الزوائد: ۱۳۱/۱۰.
۲) احمد: ٤۹٤/۳، وسنده حسن، دارمی: ۲۸۵/۲.

Scanned with Ca

وَقَالُوا	لَوْ شَآءَ	الرَّحْمٰنُ	مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ	مَا لَهُمْ
اووایی دوئ	که غوښتلې	رحمان خدائې	نونه به کولې مونږ عبادت ددوئ	نشته دوئ لره
اودوئ وائی چې که الله ﷻ غوښتلې نو مونږ به ددې (فرښتو) عبادت نه کولو				دوئ د

بِذٰلِكَ	مِنْ عِلْمٍ ۚ	اِنْ هُمْ	اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ۝
په دې خبره	څه علم	نه دی دوی	مګر اټکل چلوی
حقیقت نه هډو خبر نه دی	خو په اټکل پسې روان دی		

قوله تعالی:: وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا

د مشرکانو خود ساخته تقسیم :الله ﷻ د مشرکانو د دې افترا او دروغو باره کښې فرمائی کوم چه هغوی دالله ﷻ باره کښې وائی چه د هغې ذکر دسورة انعام آیت وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ الخ کښې دې یعنی الله ﷻ چه کوم فصلونه او ځناور پیدا کړی دی دې مشرکانو په دې کښې خو څه حصه د الله ﷻ دپاره مقرر کړې ده او د خپل ځان نه ئې اووې چه دا خو د الله ﷻ ده او دا زمونږ د معبودانو ده.اوس چه کوم د دوی د معبودانو د نوم ده هغه الله ﷻ طرف ته نه رسی او کوم څیز چه د الله ﷻ وی هغه دې معبودانو ته رسې ځنګه خراب او بد د دوی دا تجویز دې ؟هغه مشرکانو هلکان او جینکې تقسیم کړل او جینکې ئې خو د الله ﷻ دپاره ثابتې کړې چه کومې د دوی په خیال ذلیله او خواري وی او هلکان ئې خپل ځان له خوښ کړل. لکه څنګه چه دباری تعالی فرمان دې ﴿اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ۝ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ۝﴾ آیا ستاسو د پاره خو دې هلکان وی اود الله ﷻ دپاره جینکې؟ داخو ډیر بې خونده تقسیم دې.د دې وجې دلته هم فرمائی چه د مشرکانوالله ﷻ بندګان د الله جز ګنړلې دې .

بیا فرمائی چه د دوی دې بد تمیزی ته اوګورې چه پخپله ځان له نه خوښوی بیا الله ﷻ له ئې څنګه خوښوی؟د دوی دا حالت دې چه کله دوی کښې چا ته د دې خبر او رسی چه تا کره جینې پیدا شوې ده نود ده خوله ورانه شی لکه چه یو شرمناك او د غم خبر ئې واوریدو چا ته د دې ذکر هم نه کوی دننه دننه خوټکیږی تندې تریې یو رازورند وی خو بیا د خپل حماقت اظهار په دې شان اوکړی چه د الله ﷻ هم لونړه دی . دا ډیره د مزې خبره ده چه پخپله د کوم څیز نه یریږی الله ﷻ لره هم هغه ثابتوی

قوله تعالی:: اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ

د ښځې فطری کمزوری :بیا فرمائی ښځې چه ناقص ګنړلې شی چه دهغوئ د نقصاناتو تلافی په کالو اوخان ښائسته کولو سره کیږی او وړوکوالی نه واخلې ترمرګه پورې هغه د بناو سنګار حاجتمنه ګنړلې شی بیا د بحث مباحثې او د جګړو په وخت کښې ددې ژبه نه چلیږی او څه ښه دلیلونه نه شی ورکولې عاجزه پاتې شی او مغلوبه شی یو داسې څیز دوی الله طرف ته منسوب کوی چه ظاهری اوباطنی کمیانې خپل دننه ساتی دچا چه ظاهری کمې د کالو او دزینت اختیارولو سره د لرې کولو کوششونه کیږی لکه څنګه چه د بعضو عرب شاعرانو اشعار دی .

وما الحلي الا زينه من نقيصه يتمم من حسن اذا الحسن قصرا
واما اذا كان الجمال موفرا كحسنك لم يحتج الى ان يزورا

یعنی کالی دحسن کمې پوره کولو دپاره وی د ډیر زیات حسن دپاره دکالو څه ضرورت؟ (مترجم د طرف نه) لکه څنګه چه د یو اردو شاعر شعر دې .

تیرے حسن وجمال کی خاطر تل بھی کافی ہے زیورات ہے کیا

ترجمه: ستا د حسن د پاره ستا دا یو تور خال کافی دې د کالو هیڅ ضرورت نشته

Scanned with Ca

اوباطنی کمیانې هم پکښې دی لکه بدله نشی اخستلې نه په ژبه او نه په همت دامضمون هم عربو ادا کړې دې اوچه دوی صرف په چغو او په ژړا مدد کولې شی او په پټه څه نه ښیګړه کولې شی .بیا فرمائی چه دوی فرښتې ښځې ګڼلې دی ده دوی نه تپوس اوکړه چه کله دا فرښتې پیدا کیدې نو آیا تاسو هلته موجود وې ؟ تاسو دا مه ګڼړې چه مونږ ستاسو د دې خبرو نه نا خبره یو دا ټول مونږ سره لیکلې شوې دی او د قیامت په ورځ به د دې باره کښې سوال هم کیږی د څه نه چه تاسو له یره پکار ده او هوښیاریدل پکار دی .

قوله تعالی.:: وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ؕ

بیاددوی نورحماقت بیان فرمائی چه دوی وائی چه مونږ فرښتې ښځې اوګڼلې بیا مودهغوئ بتان جوړ کړل او بیا مونږ د هغوئ عبادت کوو که الله ﷻ غوستل نو مونږ اود دوی په مینځ کښې به حائل شوې وې او مونږ به د دوی عبادت نه شو کولې.ددې وجې چه مونږ د دوی عبادت کوو او الله زمونږ او د دوی په مینځ کښې نه حائله کیږی نو دا خبره ظاهره ده چه زمونږ دا عبادت صحیح دې غلط نه دې. پس رومبې غلطی خو د دوی دا ده چه دوی الله ﷻ لره اولاد ثابتوی او دویمه غلطی دا چه فرښتو ته د الله ﷻ لونړه وائی او دریمه غلطی دا ده چه دهغوئ نې عبادت شروع کړې دې چه په هغې باندې هیڅ څه دلیل نشته دې صرف د خپل مشرانو او مخکښنو پلارانوبو روند تقلید دې .څلورمه غلطی نې دا ده چه دا نې دالله ﷻ د طرف نه مقرر اومنل او د دې نه دا نتیجه رااوویستله که چرې الله ﷻ په دې ناراضه وې نو مونږ ته به نې دومره طاقت نه وو راکړې چه مونږ د دوی عبادت کړې وې او دا د دوی صفا جهالت او بې وقوف توب دې.الله ﷻ په دې باندې ډیر زیات نا راضه دې یو یو پیغمبر ددې خبره تردید کړې دې یو یو کتاب د دې بد بیان کړی دی .لکه چه فرمان دې ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ﴾ یعنی په هر امت کښې مونږه رسولان علیهم السلام رالیږلي دی چه د الله ﷻ عبادت کوې اودهغه نه علاوه د بل چادعبادت نه ځان ساتې بیا بعض خوداسې اوختل چا ته چه الله ﷻ هدایت اوکړو او بعضې داسې هم اوختل چا باندې چه دګمراهې خبره ثابته شوه .تاسو په زمکه کښې ښه اوګرځې اوګورې چه د دروغ ګنړلو څنګه خراب حشر اوشو؟ بل آیت کښې دی ﴿وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ﴾ الخ یعنی ته د دې رسولانو نه تپوس اوکه کوم چه مونږ تا نه مخکښې لیږلي وو آیا مونږه د خپل ځان نه علاوه د بل چا د عباد ت اجازت ورکړې وو؟ بیا فرمائی چه دا دلیل خو د دوی ډیر عجیبه او خراب دې او عجیبه په دې چه دا بې علمه دی خپل ځان نه خبرې جوړوی او دروغ وائی یعنی دوی د الله هغه قدرت چه په دوی باندې نې دې هغه نه پیژنی.

اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ						
ایا ورکړې وو مونږ دوئ ته						
ایا مونږ دې خلقو ته						
كِتٰبًا	مِّنْ قَبْلِهٖ	فَهُمْ	بِهٖ	مُسْتَمْسِكُوْنَ ۝	بَلْ قَالُوْٓا	
کتاب	مخکښې ددې نه	چې ګنې دوئ	په هغې سره	منګولې لګونکې دی	بلکه وائی دوئ	
ددې نه وړاندې څه کتاب ورکړې دې	چې دوئ بې بنیاده په شرک باندې ټینګ دی ؟				بلکه دوئ وائی	
اِنَّا	وَجَدْنَآ	اٰبَآءَنَا	عَلٰٓى اُمَّةٍ	وَّاِنَّا	عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ	
بیشکه	موندلی دی مونږه	پلاران زمونږه	په یوه طریقه باندې	اوبیشکه مونږه	په قدمونو دهغوئ باندې	
چې مونږ خپل پلار نیکه په یوه لار موندلی وو				اوس مونږ په هغوئ پسې روان یو		

Scanned with Ca

مُّهْتَدُونَ ﴿۲۲﴾	وَكَذٰلِكَ	مَآ اَرْسَلْنَا	مِنْ قَبْلِكَ	فِيْ قَرْيَةٍ
تلونکي يو	او دارنګې	نه ووُ ليږلي مونږه	مخکښې ستا نه	په يو کلي کښې
.....	اودغه شان مونږ ستانه ورانديِ چې کوم يو کلي ته هم څوک			
مِّنْ نَّذِيْرٍ	اِلَّا قَالَ	مُتْرَفُوْهَآ	اِنَّا وَجَدْنَآ	
يو يرونکي پيغمبر	مګر اووئيل	مالدارو خلقو دهغه کلي	بيشکه موندلي دي مونږه	
ويرونکي ليږلي دي	نو د هغې کلي خوشحاله خلقو ورته دا وئيلي وو		چې مونږ خپل پلار نيکه	
اٰبَآءَنَا	عَلٰٓى اُمَّةٍ	وَّاِنَّا	عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ	مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾
پلاران زمونږه	په يوه طريقه باندې	او بيشکه مونږه	په قدمونو دهغوئ باندې	روان يو
هم په دې طريقه موندلي وو	اومونږ د هغوی په تابعداري کښې په هغوئ پسې روان يو			
قٰلَ	اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ	بِاَهْدٰى	مِمَّا	
ورته اووئيل پيغمبر	آيا اګر که راوړې دي ماتاسو ته	زيات ښه لار ښودونکي	دهغې نه	
پيغمبر ورته اووئيل	اګر که ما درته د هغې نه بهترينه طريقه راوړې وي	په کومه چې تاسو		
وَجَدْتُّمْ	عَلَيْهِ	اٰبَآءَكُمْ ؕ	قَالُوْٓا	اِنَّا
چې موندلي دي تاسو	په هغې باندې	پلاران ستاسو	اووئيل هغوئ	بيشکه مونږه
خپل پلار نيکه موندلي وو	(نوبيا هم تاسو زما خبره نه منئ)	.....	هغوئ به ورته اووئيل	چې (بياهم)
بِمَآ	اُرْسِلْتُمْ	بِهٖ	كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾	فَانْتَقَمْنَا	مِنْهُمْ
په هغې چې ليږلي شوی يئ تاسو	په هغې	انکار کونکي يو	پس بدل واغستو مونږه	دهغوئ نه	
مونږ ستاسو دپيغام قبلولو نه انکاريان يو	.....	نومونږ د هغوی نه بدله واخسته			
فَانْظُرْ	كَيْفَ كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾ ع		
پس اوګوره	څرنګې ووُ	انجام	ددروغ ګنړونکو		
نوته اوګوره چې د دروغ ګنړونکو انجام څه شو					

قوله تعالى:: بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا

دپلارنيکه غلط تقليد کول کوم خلق چې دالله ﷻ نه سوادنورو عبادت کوی دهغوئ باره کښې بيان کيږی چې هغوئ سره هيڅ دليل نشته دې او داوائی چې مونږ دوئ ته ددوئ دشرک نه مخکښې کتاب ورکړې وو اودهغوئ نه دوئ سند پيش کوی يعنی حقيقت داسې نه دې . لکه فرمائی چې ﴿اَمْ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا﴾ يعنی ولې مونږ په دوئ داسې دليل نازل کړې دې چې هغه دوئ ته د شرک وائی؟ يعنی داسې نه دی، بيا فرمائی چې داخونه بلکه دشرک سند خو دوئ سره صرف اوصرف يو دې اوهغه دپلارانو اونيکونو روند تقليد چې په کوم دين دهغوئ وو مونږ به هم په دې قائم يو .دامت نه دې ځائې کښې مراد دين دې لکه بل آيت مبارک کښې دی چې ﴿اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً﴾ ددې نه هم مراد دين دې . ورسره وائی چې مونږ د هغوئ په لار روان يو .نودووئ بی دليله دعوې نه پس الله ﷻ فرمائی چې ددوئ مخکښې نه هم دا طريقه و . ددوئ جواب هم دنبيانو دتعليم په مقابله کښې هم دا تقلي پيش کول وو .بل ځائې کښې فرمائی چې ﴿كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾﴾

Scanned with Ca

یعنی ددوئ نه مخکښې خلقونه چې رسول راغلې دې نو هغه امتونو هغه ته لیونې او جادوګر وئیلې دې . لکه د مخکښې او روستو په خلو کښې بس دالفظونه پراته دی حقیقت دادې چې په سر کشئ کښې دوئ یورنګ دی . بیا ارشاد کولې شی چې هر کله دوئ معلوم کړی او پوهه شی چې دانبیاء علیهم السلام تعلیم زمونږ د پلرونواونیکونو تقلید نه غوره دې خو بیا هم ددوئ اراده اوضد ډیر زیات وی . دوئ حق نه قبلوی . نو مونږد داسې اړی ماروخلقو نه مونږ خامخابدل اخلو او په مختلفو طریقو ئې تباه کوؤ اوبربادکوؤ . ددوئ قصه ډیره مشهوره ده اودا ذکر شوې ده . په غور او فکر ئې اولولئ اوپه دې ښه سوچ اوکړئی چې کافران څنګه بربادکړې شوی دی اومومنانو څنګه خلاصې موندلې دې .

وَاِذْ	قَالَ	اِبْرٰهِيْمُ				
	او کله چې	اووئیل	ابراهیم			
..... اوکله چې ابراهیم علیه السلام						
لِاَبِيْهِ	وَقَوْمِهٖٓ	اِنَّنِيْ	بَرَآءٌ	مِّمَّا	تَعْبُدُوْنَ ۙ﴿۲۶﴾	
پلار خپل ته	او قوم خپل ته	بیشکه زهٔ	بیزاره یم	دهغې نه	چې تاسو ئې عبادت کوئ	
خپل پلار او خپل قوم ته اووئیل	..... چې زهٔ ستاسو دمعبودانونه بیزاره یم					
اِلَّا الَّذِيْ	فَطَرَنِيْ	فَاِنَّهٗ	سَيَهْدِيْنِ ﴿۲۷﴾			
ماسوا دهغه ذات نه	چې پیدا ئې کړم زهٔ	پس بیشکه هم هغه به	لار ښائی ماته			
سوا د هغه ذات نه چې زه ئې پیدا کړې یم	نو هم هغه به راته سمه لاره اوښائی					
وَجَعَلَهَا	كَلِمَةًۢ	بَاقِيَةً	فِيْ عَقِبِهٖ	لَعَلَّهُمْ		
اواوګرزوله ابراهیم دغه کلمه	باقی پاتې کیدونکی	په پشت (اولاد) خپل کښې	دپاره ددې چې هغوئ			
اوهغه دا (دتوحید) خبره په خپل اولاد کښې باقی پاتې پریښوده	..... د دې دپاره چې					
يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾	بَلْ	مَتَّعْتُ	هٰٓؤُلَآءِ	وَاٰبَآءَهُمْ		
واپس شی (توحیدته)	بلکه	مابه دژوند سا مانونه ورکول	دوئ له	او پلارانو ددوې له		
ائنده هم خلق (دشرک) نه واپس اوګرځی	حقیقت دا دې	چې مادوئ اوددوئ پلار نیکونو ته ډیرډیر				
حَتّٰى	جَآءَهُمُ	الْحَقُّ	وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۹﴾	وَلَمَّا	جَآءَهُمُ	الْحَقُّ
تر دې پورې	چې راغې دوئ ته حق	او رسول صفا بیانونکې	او هر کله چې	راغې دوئ ته حق		
سامانونه ورکړی دی	اتردې چې رښتینې (قرآن) اوواضحه وینا کونکې پیغمبر ورته راغلو	اوکله چې ورته رښتینې				
قَالُوْا	هٰذَا سِحْرٌ	وَّاِنَّا	بِهٖ	كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾	وَقَالُوْا	
نو اوویل دوئ	دا جادو دې	او بیشکه مونږه	په دې	انکار کونکی یو	اووانی دوئ	
قرآن راغلو	نو دوئ اووئیل چې دا خو جادو دې	اومونږ خودا نه منو	او دا ئې اووئیل چې دا			
لَوْلَا نُزِّلَ	هٰذَا الْقُرْاٰنُ	عَلٰى رَجُلٍ	مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ	عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾		
ولې نازل نه کړې شو	دا قران	په یو سړی باندې	ددوؤ کلونه	اسړی لوئ باندې		
قران پاک د دوو (لویو) کلو په چا لوئې سړی باندې ولې نه نازلیدلو (چې یو مکه او بل طائف دې)						

Scanned with Ca

أَهُمْ	يَقْسِمُونَ	رَحْمَةَ رَبِّكَ ؕ	نَحْنُ	قَسَمْنَا
ایا دا خلق	تقسیموی	رحمت درب ستا	دا خو مونږه یو	چې تقسیم کړی دی مونږه
ایادوئ ستا د رب رحمت تقسیموی؟	.....			هم مونږ ددوئ روزی په دنیا
بَيْنَهُمْ	مَّعِيشَتَهُمْ	فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا	وَرَفَعْنَا	
په منځ ددوي کښې	ذریعې د ګذران ددوئ	په ژوند ددنیا کښې	او پورته کړی دی مونږه	
کښې ددوئ په منیځ کښې تقسیم کړې ده	او مونږ بعضو ته په بعضو نورو کسانو باندې			
بَعْضَهُمْ	فَوْقَ	بَعْضٍ	دَرَجٰتٍ	لِّيَتَّخِذَ	بَعْضُهُمْ
خینې ددوئ	دپاسه	دخینو نورو	په مرتبو کښې	دپاره ددې چې اونیسي	خینې ددوئ
مرتبې اوچتې کړی دی	.....	چې یو کس (افضل) د بل کس (مفضول) نه کار اخلي			
بَعْضًا	سُخْرِيًّا ؕ	وَرَحْمَةُ رَبِّكَ	خَيْرٌ	مِّمَّا	يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾
خینو نورو لره	خدمت ګار	او رحمت درب ستا	ابهتر دي	دهغې دولت نه	چې دوئ ئې جمع کوی
اوستا درب رحمت د هغې مال نه ډیرغوره دي کوم چې داخلق راجمع کوی					
وَلَوْلَآ	اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ	اُمَّةً وَّاحِدَةً	لَّجَعَلْنَا	
او که نهٔ وي (دا یره)	چې شی به خلق (ټول)	ډله یوه	نو خامخا به جوړ کړی وؤ مونږه	
اوکه دا خبره نه وي چې ټول خلق به یوه ډله (کافران) شی	نو مونږ به			
لِمَنْ	يَّكْفُرُ	بِالرَّحْمٰنِ	لِبُيُوْتِهِمْ	سُقُفًا	مِّنْ فِضَّةٍ
دپاره دهغه چا	چې کفر کوی	دخدائې سره	کورونو دهغوئ لره	چتونه	دسپینو زرو
درحمان (الله ﷻ) منکرانو دپاره دکوټو چتونه دسپینو زرو جوړ کړی وو					
وَّمَعَارِجَ	عَلَيْهَا	يَظْهَرُوْنَ ﴿٣٣﴾ ۙ	وَلِبُيُوْتِهِمْ	اَبْوَابًا	وَّسُرُرًا
اواندرپاني	چې په هغې	خیژی هغوئ	اوکورونو دهغوئ لره	دروازې	او تختونه
او پورئ چې په هغې به ورختل اودهغوئ دکورونو دروازې اوتختونه					
عَلَيْهَا	يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿٣٤﴾ ۙ	وَزُخْرُفًا ؕ	وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ	لَمَّا
چې په هغې باندې	تکیه ګانو ته ډډې وهی هغوئ	او دسروزرو	اونهٔ دی دا ټول	مګر
چې په هغې به ئې ډډې وهلې دا ټول هم سرو زرو نه جوړ کړی وو	اودا ټول خیزونه هیڅ نه دی	دا خو		
مَتَاعُ	الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ	وَالْاٰخِرَةُ	عِنْدَ رَبِّكَ	لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٥﴾ ع
سامان	دې دژوند ددنیا	او اخرت	په نز درب ستا	دپاره دمتقیانو دي
د دنیا د ژوند ورځو د نفعې سامان دي	اواخرت ستا د رب په نیز پرهیزګارانو دپاره دي			

قوله تعالی:: وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ
شرک بالکل ختمول ابراهیم ﷺ سنت دی :: دقریشو کفارو ددین اودنسب اعتبار سره حضرت ابراهیم ﷺ ته منسوب وو په دې وجه الله ﷻ دهغوي مخکښې سنت ابراهیمی کیخودو او وې فرمائیل

چې اوګورئی هغه خپل ځان نه پس دټولو نبیانو علیهم السلام پلار او دالله ﷻ رسول او امام الموحدین وو .هغوئ په ښکاره نه صرف د خپل قوم نه بلکه خپل ځکه پلار ته ئې هم اووئیل چې ځما او ستا هیڅ تعلق نشته دې . او خپل الله ﷻ چې ځما خالق او معبود او ځما هادی دې ، ځۀ ستاسو دټولو معبودانو نه بیزار یم او ددوئ سره ځما هیڅ تعلق نشته .اوالله ﷻ ددوئ د توحید او حق وینا او جوش اوجذبې دابدله ورکړه چې هغوئ په اولاد کښې ئې کلمه دتوحید باقی اوساتله . ناممکن دی چې دهغوئ په اولاد کښې ددې کلمې قائل نه وی ، هم ددوئ اولاد به ددې حق کلمې اشاعت کوی . اوسعیدا نیک روحونه به هم ددې کورنئ نه توحید زده کوی . غرض دا چې دا کورنئ د اسلام او توحید معلمه جوړه شوه.

قوله تعالی::بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ

مشرکانو صرف د خپل ضد په وجه انکار اوکړو::بیا فرمائی چې دې کفارو شرک کولو او ما دوئ ته دنیا ورکوله او دوئ په دهوکه کښې اخته وو او دومره لرې لاړل چې کله دوئ ته حق دین او حق ویونکی رااغلل نودوئ دا اووئیل چې دالله ﷻ کلام او دنبیانو علیهم السلام معجزې جادو دې . او مونږ ددې نه منکر یو .او دسرکشئ او ضد په وجه ئې کفر شروع کړو .او د عناد او کفر په و جه دحق مقابله کولو ته تیار شو .او وې وئیل چې که دادالله ﷻ قران دې او په رښتیا دالله ﷻ کتاب دې نو بیادا ولې دمکې اوطائف په یومالدار سړی ولې نه نازلیدو . او مالدار اولوئې سړی نه ددوئ مراد ولید بن مغیره ، عروه بن مسعود ، عمیر بن عمر ، عتبه بن ربیعه ، حبیب بن عمرو ، ابن عبدیالیل ، کنانه بن عمرو وغیره وو .غرض دا وو چې ددې کلو په یو لوئې مرتبې والا سړی باندې ولې دا قران پاک نازل نشو .

قوله تعالی::اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَةَ رَبِّكَ

ددې اعتراض په جواب کښې فرمان کیږی چې آیا دوئ دالله ﷻ درحمت مالکان دی څه ؟ چې دوئ دا تقسیموی . دالله ﷻ ځیزونه دالله ﷻ ملکیت دی هغه ذات چې چاته څومره ورکوی نوهغه ورکوی او بیا چرته ستاسوعلم اوچرته د هغه ذات علم؟ هغه ذات ته ددې ښه علم دې چې دالله ﷻدرسالت صحیح حقدار څوک دی؟ دا نعمت هغه چاته ورکړې کیږی چې هغه د ټول مخلوق نه زیات پاک وی . او هغه نفس ډیر پاک وی . او ټولو نه زیات دا چې ټولو نه عزت مندې کورنئ سره دهغه تعلق وی . او ټولو نه دزیات پاک اصل والا وی ؟

بیا فرمائی چې څنګه دالله ﷻ د رحمت تقسمولو والا شو؟ ددوئ خپل رزق هم ددوئ په قبضه کښې نه دی . ددې تقسیم هم په دوئ تقسیموی .او فرق تفاوت سره چې چاته څومره ورکړه کوؤ نو هغه ورکوؤ .اودچا نه ئې چې کله اوغواړو نواخلو ئې تړې او هم دوئ ته عقل، فهم،قوت او طاقت ورکړې دې . او په دې کښې هم جدا جدا مرتبې دی . په دې کښې یو حکمت دادې چې دیو بل نه کار واخلی ځکه چې ددې دوئ ته ضرورت او حاجت وی . دیو بل ماتحت وی . بیا ارشاد اوشو چې تاسو په دنیا کښې څه جمع کوئی دهغې نه دالله ﷻ رحمت ډیر بهتر او افضل دې . دې نه پس الله ﷻ فرمائی که چرې دا خبره نه وې چې خلق به مال لره ځما دفضل او ځماد رضامندئ دلیل جوړ کړی اونیسی اود مالدارو په شان به شی نو ځۀ به کفارو ته دومره دنیاورکړم چې دهغوئ دکورونو چتونه بلکه د کوټو پوړئ به هم د چاندئی وې چې دهغې په ذریعه به دوئ خپلو بالا خانونه تللئ . او د هغئ دروازې او دهغوئ دناستې پاستې څایونه او تختونه به هم دچاندئ وې . اود سرو به وې . ځما په نزد ددنیا هیڅ قدروقیمت نشته .دا فانی ده او دا ختمیدو والا ده . او که چاته ټوله ملاؤ شی نو بیا هم د آخرت مقابله کښې دا ډیره کمه ده .ددې خلقود نیکو بدله کښې دوئ ته داملاویږی .

Scanned with Ca

خوراک څکاک کښې څه اسانئ ورکوی . اخرت کښې به دوئ بالکل خالی لاسونه وی . یوه نیکی به باقی پاتې نشی چې په هغې الله ﷻ نه څه واخلی .

لکه یو صحیح حدیث پاک دی که ددنیا قدر دالله ﷻ په نزد دماشی دیو وزر برابر وې نو یو کافر ته به ئې داوبو یو ګوټ هم نه وې ورکړې (۱)

بیا فرمائی چې دآخرت نیکئ صرف هغه چا دپاره دی چې هغوئ په دنیا کښې ډیر په خیال قدمونه ایږدی په ویره ویره ژوند تیروی . هلته به دالله ﷻ خاص او نعمتونه اومخصوص رحمتونه به هغه چا ته ملاویږی چې هغه سره به په دې کښې څوک شریک نه وی . نو کله چې حضرت عمرفاروق ؓ د حضرت نبی کریم ﷺ بالاخانې ته راغلو او نبی ﷺ هم په هغه وخت کښې خپلو بیبیانو سره ایلاء کړې وه نو وې کتل چې حضرت نبی کریم ﷺ په یو پوزکی باندې تکیه لګولې ده ملاست دی . اودهغې نښې د حضرت نبی کریم ﷺ په ملا مبارکه باندې دی نو په ژړا شو او وې وئیل چې یا رسول الله ! ﷺ اوګورئ قیصر وکسری څومره ښه ژوندتیروی اوتاسو دالله ﷻ برګزیده او خوږ نبی یئ اوستاسو څه حال دې ؟ حضور نبی کریم ﷺ تکیه لګولې وه او راپورته شو اوتکیه ئې پریخوده او وې فرمائیل چې ائې ابن خطاب ! آیا ته په شک کښې ئې ؟ دا خوهغه خلق دی چې دوئ ته به ددوئ نیکئ هم دلته ملاویږی (۲)

(یو بل روایت کښې دی چې آیاته په دې خوشحاله نه ئې چې هغوئ ته دنیا ملاؤشی او مونږ ته آخرت. (۳) بخاری ومسلم وغیره کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی چې د سرو او سپینو په لوښو کښې خوراک څکاک مه کوئی دا دنیا کښې ددوئ دپاره دی او آخرت زمونږ دپاره دی. (۴))

او په دنیا کښې ددوئ دپاره داسې دی چې دالله ﷻ په نظر کښې دنیا ذلیل او خواره ده . دترمذی وغیره یوبل حدیث پاک دی چې حضور ﷺ اوفرمائیل چې که ددنیا وقعت دالله ﷻ په نظر د ماشی برابر وی نو کافر ته به ئې یو ګوټ اوبه هم نه وې ورکړې (۵))

وَمَنْ يَّعْشُ	عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ	نُقَيِّضْ	لَهٗ	شَيْطٰنًا	فَهُوَ
او هغه څوک چې بې پرواهی کوی	ذکر درحمان نه	مونږ مسلط کوؤ	په هغه	یو شیطان	پس هغه
اوڅوک چې د رحمان د ذکر نه غفلت اختیار کړی	نومونږ دهٔ دپاره یوشیطان مقرر کړو				

لَهٗ	قَرِيْنٌ ۝	وَاِنَّهُمْ	لَيَصُدُّوْنَهُمْ	عَنِ السَّبِيْلِ
هغه لره	ملګری شی	او بیشکه دا شیطانان	خامخا منع کوی	خپل ملګری
نو هغه د ده ملګری وی		اوبیشکه هغوئ ئې د نیغې لارې نه منع کوی		او دوئ

وَيَحْسَبُوْنَ	اَنَّهُمْ	مُّهْتَدُوْنَ ۝	حَتّٰٓى	اِذَا جَآءَنَا
او ګمان کوی هغوئ	چې بیشکه هغوئ	په نیغه لار دی	تر دې پورې	چې کله راشی مونږ ته
خیال کوی	چې ګنې دوی په نیغه لار روان دی		تر دې چې دا	سړې مونږ ته راشی

---

۱) ترمذی کتاب الزهد باب ماجاء فی هوان الدنیا علی الله عزوجل : ۲۳۲۰، وهو حسن ابن ماجه : ۴۱۱۰. حاکم : ۳۰۶/۴.

۲) صحیح بخاری کتاب المظالم باب الغرفة والعلیة المشرفة.....: ۲۴۶۸، صحیح مسلم: ۱۴۷۹.

۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة التحریم : باب ((تبتغی مرضات ازواجک...)) : ۴۹۱۳، صحیح مسلم: ۱۴۷۹.

۴) صحیح بخاری کتاب الاطعمة باب الاکل فی اناء مفضض: ۵۴۲۶، صحیح مسلم ج ۲۰۶۷.

۵) ترمذی کتاب الزهد باب ماجاء فی هوان الدنیا علی الله عزوجل : ۲۳۲۰، وهو حسن ابن ماجه: ۴۱۱۰.

Scanned with Ca

قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ

نو وائی به | کاش چی | په منځ زما | او په منځ ستا کښی | لرې والي ددوۀ مشرقونو وي

نو (دې شیطان ته) به اووائی چې افسوس زما اوستا په مینځ کښې دمشرق اودمغرب لرې والي وي

فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ ﴿۳۸﴾ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اِذْ ظَّلَمْتُمْ

پس ډې بدملګري ئې ته | اوهرګز به فائیده درنه کړی تاسو ته | نن ورځ | هرکله چی ظلم کړې دې تاسو

ته څومره خراب ملګري یئ | او (اوس به درته هیڅ فائده درنه کړی | ځکه چې کفر مو اختیار کړې وو

اَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۹﴾ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ

چی بیشکه تاسو | په عذاب کښی | شریک یئ | آیا پس ته به | اورول اوکړې | کونړ سړی ته

اوس به تاسوټول په عذاب کښې شریک یئ | ..... آیا ته کنړو ته خپل آواز آورولې شې ؟

اَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَنْ كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۰﴾ فَاِمَّا

یا به لار اوښائې | روند ته | او هغه چاته | چې وی | په ګمراهئ | ښکاره کښی | پس که چرې

یا رندو ته لار خودلې شې | او هغه چاته چې په ښکاره ګمراهئ کښې پراته دی | نو که

نَذْهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَوْ نُرِيَنَّكَ

بوزو مونږ تالره | پس بیشکه مونږه | ددوئ نه | بدله اغستونکی یو | یا اوښایو مونږ تاته

مونږ تا (ددې دنیا نه) بوځو (وفات کړو) | نوبیا هم ددې کافرونه خو به بدله اخلو | اویا به تا ته

الَّذِيْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَيْهِمْ

هغه انجام | چې وعده ئې کړې ده مونږ ددوئ سره | پس بیشکه مونږه | په دوئ باندې

هغه عذاب اوښایو | دکوم چې مونږ دوئ سره وعده کړې ده | نو مونږ په دوئ باندې هر

مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿۴۲﴾ فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْٓ اُوْحِيَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ

قدرت لرونکی یو | پس مضبوط اونیسه | هغه کتاب | چې وحی کړې شوې دې | تاته | بیشکه ته

څنګه قدرت لرو | نوته په دې قران باندې قائم اوسیږه | .....چې تاته راليږلې شوې دې

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۚ

په لاره | نیغه باندې ئې | او بیشکه دا کتاب | یو نصیحت دې | تالره | او قوم ستالره

بیشکه ته په سمه لاره باندې قائم یئ | اوبیشکه دا قران پاک ستا او ستاد قوم دپاره ښه نصیحت دې

وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا

او ډیر زر به | تپوس اوکړې شی ستاسو نه | او تپوس اوکړه | دهغه چانه | چې لیږلی دی مونږه

اوډیر زر به تاسونه تپوس کیږی | او ته د هغې پیغمبرانو نه تپوس اوکړه | چې مونږ

مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً

مخکښی ستا نه | درسولانو زمونږ نه | آیا مقرر کړی وۀ مونږه | بې درحمن نه | نور خدایان

ستانه مخکښې لیږلی وو | چې آیا مونږ د رحمان نه سوا نور معبودان مقرر کړی وو

Scanned with Ca

يَعْبُدُونَ ﴿۸۹﴾
چې عبادت داوکړي شی دهغوئ ا
چې دهغوئ عبادت دې کولې شی ا

قوله تعالی:: وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ

دالله ﷻ ذکر نه دغفلت نتیجه ::ارشاد دې چې کوم کس دالله ﷻ د ذکر نه غفلت اختیار کړی او بې رغبته شی نودهغه په زړه شیطان حمله کوی . اوددۀ ملګرې شی .دسترګې دنظر کمی ته په عربئ کښې عشی فی العین وائی. هم دا مضمون دقران پاک په نورو آیتونو مبارکو کښې راغلې دې لکه فرمائی چې ﴿ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ ﴾یعنی کوم کس چې دهدایت ظاهریدو نه پس هم دالله درسول مخالفت اوکړی او دمومنانودلارې نه سوابله لار اختیار کړی نو مونږ به هغه هم هلته پریږدو او جهنم ته به ئې داخل کړو اوهغه ډیر خراب ځائې دې او یو بل آیت مبارک کښې دی چې﴿فَلَمَّا زَاغُوْا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ﴾ یعنی کله چې هغوئ کاږه شو نو الله ﷻ هم دهغوئ زړونه کاږه کړل . اوبل آیت مبارک کښې دی چې ﴿وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ﴾ یعنی مونږ چې دهغوئ هم نشین مقرر کړل نوهغوئ ددوئ مخکښې اوروستو والا څیزونه زینت جوړوی او هغه خوروی. دلته ارشاد دې چې داسې غافله خلق الله ﷻ خپل قابو کښې راولی . اودوئ دالله ﷻ د لارې نه منع کوی . اوددوئ په زړه کښې دا خبره کینوی چې ددوئ دا طریقه ډیره ښه ده . دا بالکل صحیح دې . په دې قائم اوسه . اوکله چې دوئ دقیامت په ورځ دالله ﷻ مخکښې پیش شی اوهلته ورته صحیح معامله معلومه شی نو دوئ به دخپل دوست شیطان نه برات ظاهر کړی . او وائی به چې کاش ځما او ستا مینځ کښې دومره فاصله وې لکه څومره چې دمشرق او مغرب ترمینځه ده . دلته د غلبې داعتبار په طور د مشرقینو یعنی د دوه مشرقو ذکر اوکړو .لکه نمر او سپوږمئ ته ئې چې قمرین یعنی دوه سپوږمئ وئیلې کیږی او مورپلار ته ابوین یعنی دوه پلاران وئیلې کیږی .

قوله تعالی::حَتّٰٓى اِذَا جَآءَنَا

دقبر نه د راپورته کیدو په وخت کښې به کافرانو سره شیطان لګیدلې وی::یو قرات کښې ﴿جاء نا﴾ هم دی یعنی شیطان او داغافله انسان چې کله مونږ ته راشی.حضرت جریر رحمةالله علیه فرمائی چې کله کافر دخپل قبر نه پورته کیږی نو شیطان زر راشی او دۀ سره لاس ملاؤ کړی اوبیا نه جدا کیږی . تردې چې دوئ دواړه جهنم ته هم یو ځائې اچولې شی .

بیا فرمائی چې جهنم ته ستاسو د ټولو جمع کیدل اودهغه ځائې عذاب کښې شریکیدل ستاسو د فاندې دپاره نه دی . دې نه پس خپل نبی ﷺ ته فرمائی چې دازلی کنړو په غوږونو کښې ته د هدایت آواز نشې ورټومبلې . او مورزادی رندو ته ته لار نشې ښائیلې . کوم چې په ښکاره ګمراهئ کښې پراته دی هغوئ ستا هدایت نشی قبلولې . یعنی زمونږ طرفنه په تاباندې فرض نه دی خواه مخواه دې هر سړې دې مسلمان شی . هدایت ستا د قبضې څیز نه دې . چې څوک حق طرفته غوږ نه ایږدی،څوک چې حق طرفته سترګې نه غړوی څوک چې دهوکه شی او هم په دې کښې خوشحاله وی نوتاته دهغوئ دومره فکردې؟ په تاباندې صرف تبلیغ ضروری دې او هدایت او ضلالت زمونږ په لاس کښې دی . څه حکیم ذات یم ، مونږ چې څه کوؤ نوهغه به کوؤ ته زړه مه تنګوه . بیافرمائی اګر چې مونږ تا ددې ځائې نه بوزو نوبیابه هم مونږ ددې ظالمانونه بدله اخلو .مونږ به تاته هغه څه اوښایو چې هغې مونږ تاسره وعده کړې ده . مونږ خو ددې نه عاجز نه یو .غرض داشان او هغه شان

Scanned with Ca

دواړو صورتونو کښې به په کفارو باندې عذاب وی . خو بیاهغه صورت خوښ کړې شو چې کوم کښې د پیغمبر ﷺ عزت زیات وو یعنی الله ﷻ ته وفات نه کړې ترکومې چې ټې خپل دښمنان مغلوب کړل . ستاسترګې مویخې کړې . ته به ددوئ دمالونو او ملکیتونو مالک جوړ شې . داخو دحضرت سدی رحمه الله وغیره تفسیر دې . خو حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چې دالله ﷻ نبی ﷺ ددنیا نه فوت کړې شو او ټول انتقام باقی پاتې شو .الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته ددوئ په ژوند کښې هغه معاملات اونه خودل چې کوم نبی کریم ﷺ ته خوښ نه وو .د نبی کریم ﷺ نه سوا دنورو نبیانومخکښې دهغوئ په امتونو باندې عذابونه راغلل . مونږ ته دا هم وئیلې شوی دی چې کله حضور نبی کریم ﷺ ته دا معلوم کړې شو چې ستا په امت باندې به څه څه وبال رازی نو دهغه وخت نه حضور ﷺ تر خپل دوفات وخت پورې په ډکه خوله نه دی خندلی (۱) حضرت حسن رحمه الله هم دا شان روایت کړې دې . یو حدیث پاک دې چې ستوری د آسمان دبچ کیدو سبب دی . هرکله چې ستوری راپریوزی نو آسمان به مصیبت کښې راشی . څه دخپلو صحابه کرامو د امن ذریعه یم . ځما نه پس به ځما په صحابه کرامو باندې هغه څه راشی چې دکومې وعدې کولې شی (۲)

بیا ارشاددې چې کوم قران پاک په تاباندې نازل شوې دی هغه سراسر حق او ریښتیا دې . اودا د حقانیت نیغه اوصفا لار ښائی نودا مضبوطیا سره اونیسه او همدا جنت نعیم او نیغې لارې طرفته رهنمائی کوی . څوک چې په دې باندې ځی او دا سینې سره لګوی نو هغه هیڅ کله هم نه دهوکه کیږی .داستااو ستا دقوم دپاره ذکر دې . یعنی اشرف او بزرګی ده. بخاری کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې دا امر (یعنی خلافت او امامت) به قریشو کښې وی څوک چې دوئ سره جنګ کوی او ددوئ نه ئې اخلی نو هغه به ناکام کیږی ترکومې چې په دین باندې قائم وی . (۳) په دې وجه هم ددوئ قومی شرافت په دې کښې دې چې قران کریم د نبی کریم ﷺ په ژبه کښې نازل شوې دې . دقریشو په لغت کښې نازل شوې دې . نو داظاهر ده چې ټولونه زیات به په دې باندې هغوئ ښه پوهیږی . هغوئ ته پکار دی چې هغوئ په دې باندې ټولو نه زیات عمل کوؤنکی جوړ شی . خاص کر په دې ډیره لویه بزرګی ده دهغه مهاجرینو چې هغوئ اول اول اسلام قبول کړې وو او په هجرت کښې هم ټولو نه ورانده وو. او دوئ سره قدم په قدم روان وو. دذکر معنی نصیحت هم ده. په دې صورت کښې دا یاد ساتل پکار دی چې دحضور ﷺ قوم دپاره ددې نصیحت کیدل او نورو دپاره د نصیحت نه کیدو معنی کښې نه دی لکه فرمائی چې ﴿لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ﴾ یعنی بالیقین مونږ تاته قران پاک نازل کړې دی چې په دې کښې ستا دپاره نصیحت دې نو آیا ته عقل نه لرې ؟ او یو بل آیت کریمه کښې دی چې ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ یعنی خپل خاندان والا رابیدار کړه . غرض د قران پاک نصیحت کیدل او رسالت دنبی ﷺ عام دی .دا دخاندان والودپاره هم دی او ټولې دنیا والو دپاره هم دی .بیا فرمائی چې نزدې ده چې ستاسو نه سوال کیږی چې تاسو په کلام الله باندې څومره عمل کړې دې او دا مو ترکومه حده پورې اومنلو؟ ټولو رسولانو خپلو خپلو قومونو ته همدا دعوت ورکړې دې چې کوم اټې نبی آخرالزمان ته ورکوې . د ټولو نبیانو علیهم السلام د دعوت خلاصه داوه چې هغوئ توحید خور کړو او شرک ئې ختم کړو. لکه څنګه چې قران پاک کښې دی چې مونږ هر امت دپاره رسول اولیږلو چې دالله ﷻ عبادت

---

۱) الطبری .

۲) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب بیان ان بقاء النبی ﷺ امان لاصحابة :۲۵۳۱. احمد: ۳۹۸/٤، مسند ابی یعلی : ۷۲۷٦.

۳) صحیح بخاری کتاب الاحکام باب الامر من قریش : ۷۱۳۹ احمد:۹٤/٤.

Scanned with Ca

کوئی اودهغه نه سوادنور چا عبادت مه کوئی . دحضرت عبدالله ﷺ قرات دا ایت مبارک نازل شوي دي چې ﴿وَسْئَلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَا﴾ نودا د تفسیر په شان دي داتلاوت نه دي [1]، والله اعلم. نو مطلب دا شو چې ته ددوئ نه تپوس اوکړه چې مونږ دوئ ته مخکښې رسولان لیږلی وو . عبدالرحمان رحمه الله فرمائی چې ددې نبیانو علیهم السلام نه تپوس اوکړه . یعنی د معراج په شپه کله چې ټول نبیان علیهم السلام نبی ﷺ سره جمع شوی وو. هر نبی زمونږ طرفنه لیږلې شوې وو چې هغه دتوحید تعلیم ورکړی او شرک ختم کړی.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا	مُوْسٰى	بِاٰيٰتِنَآ	
اوبې شکه لیږلي وؤ مونږه	موسی	دننبنو خپلو سره	
اومونږ موسی علیه السلام په خپلو ننبنو سره			
اِلٰى فِرْعَوْنَ	وَمَلَا۟ئِهٖ	فَقَالَ	اِنِّيْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝
فرعون ته	ملګرو دهغه ته	پس اووئیل هغه	بیشکه زهٔ رسول یم درب العالمین
فرعون اودهغه سردارانو ته لیږلي وو		نو ورته ئې اووئیل چې زه د رب العالمین رسول یم	
فَلَمَّا	جَآءَهُمْ	بِاٰيٰتِنَآ	اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ۝
پس هر کله	چې راغې هغه هغوئ ته	دننبنو زمونږ سره	نو بیا هغوئ په هغې پورې خندل
بیا چې موسی علیه السلام ورته زمونږ ورکړې ننبنې وړاندې کړې		نو هغوئ ورپورې خندا کانې شروع کړې	
وَمَا نُرِيْهِمْ	مِّنْ اٰيَةٍ	اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ	مِنْ اُخْتِهَا وَاَخَذْنٰهُمْ
اونه به ښودله مونږ هغوئ ته	یوه ننبنه	مګر	هغه به لویه وه
او مونږ چې به ورته کومه ننبنه خودله		نو هغه به د بلې نه غټه وه	
بِالْعَذَابِ	لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُوْنَ ۝	وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ
په عذاب سره	دپاره ددې چې هغوئ	راواوخئ (دکفرنه)	او اوونیل هغوئ اے جادوګره
عذاب کښې راونیول	چې هغوئ (دخپلو غلطو لارو چارو) نه منع شی	اوهغوئ اووئیل چې ائې جادوګره	
اُدْعُ لَنَا	رَبَّكَ	بِمَا	عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ
اوغواړه دپاره زمونږه	درب خپل نه	په سبب دهغې وعدې	چې کړی ئې ده تاسره
ته زمونږ دپاره د خپل رب نه سوال اوکړه		چې دکومې خبرې چې هغه تاسره وعده کړې ده	
اِنَّنَا	لَمُهْتَدُوْنَ ۝	فَلَمَّا	كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ
بیشکه مونږه	خامخا هدایت موندونکی یو	پس هر کله چې	الرې کړو مونږه
نومونږ به ضرور په نیغه لار روان شو	.....	نوبیا چې تریې مونږ عذاب لرې کړو	

[1] الطبری : ۶۱۱/۲۱.

إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾
بیا دوئ دی	چی اوړی دخبری نه	
هغوئ(هم هغه وخت) خپله وعده ماته کړه|

قوله تعالی:: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا

حضرت موسی ﷺ دلائلو او براهینو سره فرعون طرفته ::هرکله چې الله ﷻ حضرت موسی ﷺ خپل نبی او رسول جوړ کړو او فرعون اوهغه رعایا ، قبطیانو او بنی اسرائیلو طرفته ئې اولیږلو چې ته هغوئ ته توحید اوښایه اودشرک نه بچ کړه.حضرت موسی ﷺ ته ئې لوئې لوئې معجزې ورکړې لکه د لاس روښانه کیدل ، دهمسا نه اژدها جوړیدل وغیره خو فرعونیانو دخپل نبی ﷺ قدر اونه کړو بلکه تکذیب ئې اوکړو او هغه پسې ئې خندا گانې کولې نو په دې وجه په هغوئ باندې عذاب راغلو چې یو خو هغوئ ته عبرت حاصل شی او بل دا د حضرت موسی ﷺ په نبوت باندې دلیل هم وی . نوهغوئ باندې طوفان راغلو ، مولخان راغلل ، دسپورو عذاب پرې راغلو ، دچیندخانوعذاب پرې راغلو ، او د پټو او مال او ځان او میوؤ کمې وغیره پرې راغلل . کله چې به عذاب راغلو نو په چغو به شو. دحضرت موسی ﷺ خوشامندې به ئې کولې ،هغه بهٔ رضا کولو ، هغه سره به ئې وعده کوله چې ته دالله ﷻ نه دعا اوکړه چې دا عذاب لرې شی . خو چې کله به عذاب لرې شو نو بیا به ئې سرکشی شروع کړه. بیا به پرې عذاب راغلو. ساحر یعنی جادوگر نه هغوئ لوئې عالم مراد اخلی . دهغوئ دزمانې دعالمانو هم دا لقب وو. او هم په دې خلقو کښې علم وو. او په هغه زمانې کښې به ددې علم مذمت نه کیدو بلکه دې ته به ئې دقدر په نظر کتل . نو حضرت موسی ﷺ ته جادوگر دعزت په طور داعتراض به ئې نه وئیل. ځکه چې هغوئ خو خپل کار ویستلو. هرځل به ئې اقرار کولو چې مونږ بهٔ مسلمانیږو اوبنی اسرائیل به هم تاسره کړو. بیا چې به کله عذاب لرې شو نو وعده خلافی به ئې کوله او خپل قول به ئې مات کړو. لکه یوآیت مبارک کښې دی چې ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ﴾ دې آیت مبارک کښې ددې واقعې پوراتفصیل دې

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ ۦ قَالَ
	او آواز اوکړو	فرعون	په قوم خپل کښې	وې وئیل	
ه| اوفرعون خپل قوم ته اعلان اوکړو| او دا یې اووئیل
يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي ۖ
اے قومه زما	آیا نه ده	مالره	بادشاهی	دمصر	او دا نهرونه	چی بهیږی	
چې ائې زما قومه آیا د مصر بادشاهی زما نه ده	اودا ټول نهرونه چې زما په حکم باندې
مِن تَحْتِي ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ
لاند دحکم زما نه	آیا پس نه وینئ تاسو	آیا زه	بهتر یم	ددې سړی نه	هغه سړې	چی هغه
بهیږی	نوآیا تاسو دا نه وینئ ؟	نو(اوس فیصله په تاسو ده چه) زه د دې سړی (موسی) نه غوره نه یم
مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ
سپک دی	اونه دی داسې	چی واضحه بیا نکړی خبره خپله	پس ولې نه واچول شو	ده ته
چې ددهٔ هیڅ مقام نشته	او سمې واضحه خبرې هم نشی کولې	نودهٔ ته د سرو زرو

Scanned with Ca

اَسْوِرَةٌ	مِّنْ ذَهَبٍ	اَوْ جَآءَ	مَعَهُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	مُقْتَرِنِيْنَ ﴿۵۳﴾
بنگړی	دسرو زرو	یا (ولې) رانغلې	ددۀ سره	فرښتې	پیوست (ملګری)
بنګړی ولې نه دی اچولې شوی	یا ده سره یو ځای فرښتې ولې نه دی راغلی (چه د ده تصدیق یې کولې)				
فَاسْتَخَفَّ	قَوْمَهٗ	فَاَطَاعُوْهُ ؕ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	
پس هغه سپك اوموندو	قوم خپل	پس هغوئ اطاعت اوکړو د هغه	بیشکه هغوئ	وو	
دغه شان دۀ خپل قوم بې قوفه جوړ کړو	نو د هغه تابعداری یې اوکړه	بیشکه دوئ			
قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۵۴﴾	فَلَمَّآ	اٰسَفُوْنَا	انْتَقَمْنَا	مِنْهُمْ	
یو قوم	نافرمانه	پس هر کله چې	هغوئ په قهر کړو مونږه	نو بدله واغستله مونږه	دهغوئ نه
نافرمانه خلق وو	بیاکله چې هغوئ مونږ خفه کړو	نوهغه مونږ دهغوئ نه بدله واخسته			
فَاَغْرَقْنٰهُمْ	اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۵﴾	فَجَعَلْنٰهُمْ	سَلَفًا	وَّمَثَلًا	
پس ډوب کړل مونږه هغوئ	ټول	پس اوګرځول مونږه هغوئ	پیشوایان	اویوه نمونه دعبرت	
بیا مونږ هغوی ټول هلاک کړل	نو د نورو (راتلونکو) خلقو دپاره مو مشران او (دعبرت)				
لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾					
دپاره دروستنو خلقو					
نمونې جوړ کړې					

قوله تعالی:: وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ

دفرعون سرکشی او تکبر:: د فرعون سرکشی او خود سری بیانوی چې ټول قوم ئې راجمع کړو اوورته ئې اووئیل چې آیا څه ستاسو دملک مصر تنها بادشاه نه یم؟ آیا ځما باغونو کښې اومحلونو کښې نهرونه جاری نه دی؟ آیا تاسو ځما عظمت او سلطنت ته نه ګورئی؟ اوتاسو د موسی ﷺ ملګرو ته اوګورئی چې څومره فقیران او ضعیفان دی.

قران پاک کښې یو بل ځائې کښې دی چې هغه ټول راجمع کړل اوورته ئې اووئیل چې آیا څه ستاسو لوئې رب نه یم؟ نو په دې وجه الله ﷻ هغه ددې ځائې اودهغه ځائې په عذابونو کښې راګیر کړو. (ام) د (بل) په معنی دی. دځینو قاریانو قرات (اماانا) هم دی (۱) امام ابن جریر رحمة الله علیه فرمائی چې دا قرات که صحیح شی نو ددې معنی به بالکل واضحه او صفا شی. خودا قرات دټولو ښارونو دقرات نه خلاف دی. دټولو قرات (ام) د استفهام دی. (۲) حاصل دادی چې فرعون ملعون خپل ځان د حضرت کلیم الله ﷺ نه بهتر ګنړلو اودا په اصل کښې ددې ملعون دروغ وو. د ﴿مهین﴾ معنی حقیر اوضعیف ده.

قوله تعالی:: وَلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿۵۲﴾

ددوئ داعتراض څه وجه ده؟:: بیا فرمائی چې حضرت موسی ﷺ به صفا وینا نه شوه کولې. دهغه کلام فصیح نه وو. هغه خپل غرض چاته نه شو بیانولې ځینې وائی چې هغوئ ورو کوالی کښې خپله خوله مبارکه کښې د اور سکروټۀ اچولې وه. اوهغې اثر ددوئ په ژبه باندې اوس هم وو. داهم د فرعون مکر

---

(۱) الطبری: ۶۱۸/۲۱.

(۲) طبری: ۶۱۸/۲۱.

Scanned with Ca

او فریب دي حضرت موسی ﷺ صفا خبرې کولو والا او عزت والا او رعب والا وو. خودې ملعون دالله ﷻ نبی ته کفر په سترګه کتل نو په دې وجه به هغه هم داخیال کولو. حقیقت کښې هغه پخپله ذلیل او غبی وو. اګرچې د حضرت موسی ﷺ په ژبه مبارکه کښې څه لکنت وو او ددې وجه داوه چې په وړوکوالی کښې په ژبه باندې سکروټۀ ایخودې وه. خو حضرت موسی ﷺ الله ﷻ نه دعا اوغوښتله او دهغوئ د ژبې لکنت ختم شو. او خلق ددوئ په خبره په آسانئ سره پوهیدل. اوکه دا اومنلې شی چې څه فرق باقی وو څکه چې هغه په دعا دکلیم کښې دومره وو چې ځما دژبې دومره لکنت ختم شی چې خلق ځما په خبره په آسانئ سره پوهیږی. نودا د څه دعیب خبره نه ده. الله ﷻ چې څوک څنګه غواړی نو هغه شان ئې جوړوی. په دې کښې دعیب څه خبره ده اصل خبره دا وه چې فرعون دروغ خبره جوړوله او خپل خلق ئې ددوئ خلاف کول غوښتل.

قوله تعالی:: فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ

اوګورئی که نه مخکښې وائی چې په ده باندې دآسمان نه ولې نه وریږی. دې دومره مالدار کیدل پکار دي چې دده لاسونو کښې سرۀ زر وی خو دۀ سره خو هیڅ نشته دې او مفلس دې. اوکه داسې هم نه وی نو کم ازکم د آسمان نه چې ورسره الله ﷻ فرښتې رانازلې کړې وې چې مونږ خو پرې باور کولې چې دا دالله ﷻ نبی دې. غرض داچې هغه (فرعون) ډیرې خبرې اوکړې چې خلق بې قوفه کړی اوهغوئ خپل هم خیال کړی، دې خپله فاسق او فاجر وو.

قوله تعالی:: فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ

دفسق وفجور په خبره باندې هغه ډیر اخته شو. هرکله چې دهغه فسق وفجور زیات شو اوهغه په بنکاره دالله ﷻ نافرمانی شروع کړه اوالله ﷻ ئې ښه خفه کړو نوبیا دالله ﷻ غضب په هغه باندې راغلو اود هغه ټول هرڅه بنکاره شو. یو طرفته اوبو کښې غرض کړې شو او بل طرفته به هغه په جهنم کښې په اورکښې سوزی. حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې هرکله الله ﷻ چا ته دنیا ورکوی اوهغه دالله ﷻ نافرمانئ کوی نو په دې پوهه شه چې الله ﷻ هغه ته ډیل ورکوی. بیا حضرت نبی کریم ﷺ هم دا آیت مبارک تلاوت کړو. دحضرت عبدالله ﷺ مخکښې چې کله د مرګ ذکر اوشو نو دوئ اوفرمائیل چې په ایماندار باندې تخفیف دې او په کافر باندې حسرت. بیا دوئ هم دا آیت مبارک اولوستلو. (۱) ابن ابی حاتم حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله فرمائی چې انتقام غفلت سره دې. بیا الله ﷻ فرمائی چې بیا مونږ یو نمونه جوړ کړو چې دهغه دپاره کار کولو والا ددۀ انجام اوګورې. اودا مثال یعنی باعث عبرت جوړ شو چې په دې واقعاتو کښې غور اوکړئی او ددې نه ځان بچ کړئی.

وَلَمَّا	ضُرِبَ	ابْنُ مَرْيَمَ	مَثَلًا	اِذَا قَوْمُكَ	
او هر کله چې	بیانکړې شو	ځوئې دمریم	په مثال کښې	نو بیا قوم ستا	
او کله چې د بی بی مریم دځوئې مضمون واورولې شو			نو څه ګورو چې ستا قوم په		
مِنْهُ	يَصِدُّوْنَ ۝	وَقَالُوْٓا	ءَاٰلِهَتُنَا	خَيْرٌ	اَمْ هُوَ
په هغې پورې	شور جوړوی خاندی	اووې وئیل	آیا معبودان زمونږه	بهتر دی	او که هغه
دې باندې دخوشحالئ نه چغې وهل شروع کړل	اووې وئیل چې آیا زمونږ معبودان غوره دی		او که هغه (عیسی)		

(۱) الدرالمنثور: ۳۸٤/۷.

Scanned with Ca

مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿۵۸﴾

نۀ بیانوی دوئ دا مثال | تاته | مگر دپاره دجګړې | بلکه دوئ | قوم | جګړمار دي |

دوئ داخبره صرف د جګړې په غرض کړې ده | .....بلکه داخلق هسې هم جګړمار دی

اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنٰهُ

نۀ وؤ هغه (ابن مریم) | مګر | یو بنده وؤ | چې انعام کړې ووؤ مونږ |په هغه باندې |اوجوړ کړې ووؤ مونږ هغه

عیسی خو زمونږ یو (نیک) بنده وو | چې مونږ پرې فضل کړې وو | او هغه مو دبنی اسرائیلو دپاره

مَثَلًا لِّبَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا

یو مثال (نمونه) | دپاره دبنی اسراءیلو | او که غوښتلې مونږه | نو ګرځولې به وې مونږه

(دخپل قدرت) نمونه جوړه کړې وه | او که چرې مونږ غوښتلې نوتاسونه به موفرښتې

مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً فِى الْاَرْضِ يَخْلُفُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَاِنَّهٗ

ستاسو نه | فرښتې |په زمکه کښې |چې اوسیدلې به په خائې ستاسو| اوبیشکه هغه |

پیدا کړې وې | چې په زمکه کښې به ستاسو په خائې اوسیدې | .او حضرت عیسی د قیامت د راتلو

لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ؕ

خامخا نښه ده| دپاره دقیامت | پس مۀ کوئ شك تاسو | په دې قیامت کښې | او پیروی اوکړئ زما

یوه نښه ده| نو تاسو په دې باره شک مه کوئ |.....اوزما تابعداری اوکړئ(قیامت اومنئ)|

هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۱﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ

دا لاره | نیغه ده | او منع د نۀ کړي تاسو | شیطان | بیشکه هغه | تاسو لره |

دانیغه لاره ده | اوشیطان دې تاسو د نیغې لارې دتلونه منع نکړي | .....بلکه هغه ستاسو

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۶۲﴾ وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ

دشمن ښکاره دي | او هر کله چې | راغې عیسی علیه السلام | دښکاره ننبو سره | نو اووئیل هغه |

ښکاره دښمن دي | اوکله چې عیسی علیه السلام ښکاره ننبې راوړې | نو خلقو ته ئې اووئیل

قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِىْ

چې راغلې یم زۀ تاسو ته | دحکمت سره | او دپاره ددې چې بیان کړم زۀ تاسو ته | خینې خبرې | هغه

چې تاسو ته مې دحکمت خبرې راوړې دی |او ځکه راغلې یم چې تاسو ته بعضې هغه خبرې ښکاره کړم

تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۶۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ

چې تاسو اختلاف کوئ |په هغې کښې |پس اویریږئ دالله نه|اواطاعت اوکړئ زما | بیشکه الله چې دی

په کومو کښې چې تاسو اختلاف کوئ | نودالله ﷻ نه اوویریږئ |او زما تابعداری اوکړئ| بیشکه الله

هُوَ رَبِّىْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۴﴾

هغه رب زما دي | او رب ستاسو دي | پس عبادت کوئ دهغه | دا لار نیغه ده |

زما هم رب دي |او ستاسو هم رب دي | نو صرف دهغه عبادت کوئ | هم داسمه نیغه لاره ده

Scanned with Ca

فَاخْتَلَفَ	الْاَحْزَابُ	مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ	فَوَيْلٌ	لِّلَّذِيْنَ
پس اختلاف اوکړو |	ډلو	| په خپل منځ کښې | پس تباهی ده |	دپاره دهغه کسانو |
نوبیا(په دې پسې هم) مختلفو ډلو په خپل مینځ کښې اختلاف پیدا کړو | نو ظالمانو دپاره				
ظَلَمُوْا	مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ۝			
چې ظلم ئې اوکړو | دعذاب دورځې دردناکې نه				|
د دردناکې ورځې دعذاب په وجه لویه تباهی ده |				

قوله تعالی:: وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ

دمشرکانوکوم معبودان جهنمیان دی او د ایت د نزول قصه :: د (يَصُدُّوْنَ) معنی ابن عباس ﷺ مجاهد ﷺ، عکرمه ﷺ اوضحاک ﷺ کړې ده چې هغوئ په خندا شو یعنی هغوئ حیران شو. حضرت قتاده ﷺ فرمائی چې ډیر په ویره کښې ئې اووئیل (۱) ابراهیم ﷺ فرمائی چې مخ ئې واړولو. ددې وجې چې امام محمد بن اسحاق رحمة الله علیه په خپل سیرت کښې فرمائیلې دی. هغه دا چې رسول الله ﷺ ولید بن مغیره وغیره قریشو سره ناست وو چې په دې کښې نضر بن حارث هم راغلو او حضرت نبی کریم ﷺ سره ئې څه خبرې شروع کړې چې په هغې کښې دې لاجواب شو. بیاحضرت نبی کریم ﷺ د قران پاک آیت ﴿اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ الخ څو آیتونو پورې تلاوت کړل. یعنی تاسو اوستاسو معبودان ټول به جهنم ته واچولې شی. بیاحضرت نبی کریم ﷺ دهغه ځائې نه لاړو. بیا لږ وخت پس عبدالله بن زبعری تمیمی راغلو نو ولید بن مغیره هغه ته اووئیل چې نضربن حارث خود ابن عبدالمطلب نه شکست اوخوړلو. او آخر ابن عبدالمطلب مونږ ته او زمونږ معبودانو ته ئې جهنمیان اووئیل او لاړو. دۀ اووئیل که چرې څه وې نو مابه هغه لاجواب کړې وې، ورشئ او هغه ته اووائې چې هرکله مونږ اوزمونږ معبودان دوزخیان دی نو ددې نه لازمیږی چې ټولې فرښتې او حضرت عیسی ﷺ اوحضرت عزیز ﷺ هم دوزخیان دی. ځکه چې مونږ خود فرښتو عبادت کوؤ. یهودیان دحضرت عزیز ﷺ عبادت کوی. نصرانیان دحضرت عیسی ﷺ عبادت کوی. پدې دکفارومجلس ډیرخوشحاله شواو وې وئیل چې آؤ دا جواب صحیح دې. خو هرکله چې دا خبره نبی کریم ﷺ ته اورسیدله نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې هر هغه سړې چې هغه دغیرالله عبادت کوی او هر هغه سړې چې هغه خلقو ته اووائې چې ځما عبادت کوئی نو دا عابد اومعبود دواړه جهنمیان دی فرښتو خو د خپل عبادت حکم کړې او نه په دې خوشحاله دی. دوئ دهغوئ په نوم اصل کښې دشیطان عبادت کوی. اوهم هغه دوئ ته دشرک حکم کوی اودوئ ئې پوره کوی. نو پدې باندې دا ایت مبارک نازل شو چې ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ﴾ الخ. یعنی حضرت عیسی ﷺ اوحضرت عزیز ﷺ او ددوئ نه علاوه چې داخلق دکومو احبارورهبان عبادت کوی او هغوئ پخپله دالله ﷻ عبادت کولو، شرک نه ویزاره وو، اوددې نه منع کیدو والاوو، اودهغوئ نه پس دې ګمراهانو جاهلانو لره هغوئ خپل معبودان جوړ کړل. نودوئ بالکل بې قصوره دی. اودا مشرکان چې دفرښتو عبادت کوی نو ددې په تردید کښې فرمائی چې ﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا﴾ اوترڅو آیتونو پورې نازل شو. او پدې کښې ئې دهغوئ دباطلې عقیدې پوره تردید اوکړو. اودحضرت عیسی ﷺ باره کښې چې دۀ کوم جواب ورکړې وو او په هغې مشرکان خوشحاله شوی وو دا آیتونه نازل شو چې ددې خبرې پرې آوریدو چې د باطلو معبودانو عبادت کونکی به سره د هغوئ جهنم ته

---

(۱) الطبری : ۲۱/۶۲۷.

Scanned with Ca

داخليږی نو دوئ زر زر دحضرت عيسی ﷺ نوم واخستو اوددې په پيش کيدو ډيرخوشحاله شو. او وې وئيل چې اوس مونږ هغه ته شکست ورکړو. دوئ ته اووايه چې حضرت عيسی ﷺ هيچا ته هم دخپل عبادت نه وو وئيلی اوهغه خو هر وخت دالله ﷻ تابعدارو کښې وو. اومونږ هغوئ ته ښه نعمتونه ورکړی وو. دهغوئ دلاسونونه مو دنيا ته معجزې اوخودلې اودا دقيامت دليل وو. حضرت ابن عباس ﷺ نه ابن جرير کښې نقل دی چې هرکله مشرکانو دخپلو معبودانو دجهنمی کيدو خبره د حضرت نبی کريم ﷺ نه واور يدله نو وې وئيل چې بيا دابن مريم په حقله څه وائې ؟ نو حضرت نبی کريم اوفرمائيل چې هغه دالله ﷻ بنده اورسول دې. اوس دوئ سره هيڅ جواب پاتې نشو نو وې وئيل چې والله دې غواړی چې څنګه عيسايانو حضرت عيسی ﷺ منلې دې داشان مونږ هم هغه رب اومنو. الله ﷻ فرمائی چې دا صرف بکواس دې. دوئ هسې ګډې وډې خبرې کوی. (۱)

مسند احمد کښې دی چې يو ځل حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائيل چې په قران پاک کښې يو آيت دې ځمانه ددې آيت تفسير چا نه دې پوښتلې. ما ته معلوم نه دی چې هرچاته ددې معلومات شته دې اوکه نه چاته معلومات نشته دې اوبيا هم ددې دمعلومولو کوشش نه کوی ؟ بيا ئې نورې خبرې اترې شروع کړې تر دې چې مجلس ختم شو او دوئ لاړل. اوس مونږ ته ډير افسوس اوشو چې دا آيت بيا پاتې شو. او مونږ کښې چا هم ددې متعلق هيچا اونه پوښتل. پدې باندې دابن عقيل انصاری مولی اووئيل چې که صبا سحر راغلو نو زهٔ به ترې ددې تپوس کوم. هرکله چې هغه سبا راغلو نو دهغوئ پرونئ خبرې ترې اوپوښتئ شوه چې هغه کوم آيت مبارک دې ؟ دوئ ﷺ اوفرمائيل چې واورئی ! حضرت نبی کريم ﷺ يو ځل قريشو ته اووئيل چې هيڅوک داسې نشته دې چې دالله ﷻ نه سوا دهغه عبادت کيږی او په هغې کښې خير وی. په دې قريشو اووئيل چې آيا عيسی ﷺ به دالله ﷻ عبادت نه کولو ؟ اوآيا تاسو حضرت عيسی ﷺ دالله ﷻ بنده اورسول نه منئ ؟ بيا ددې وينا مطلب داشو چې دالله ﷻ نه سوا چې د چا عبادت کيږی په هغې کښې خير نشته ؟ نو په دې دا آيتونه نازل شو چې کله دحضرت عيسی بن مريم ﷺ ذکرراغلو نو وې خندل او وې فرمائيل چې هغه د قيامت علم دې. يعنی عيسی بن مريم ﷺ به دقيامت نه مخکښې راوزی. (۲)

ابن ابی حاتم کښې دا روايت دروستو جملې نه علاوه ذکر دې. حضرت قتاده فرمائی چې آيا زمونږ معبودان بهتر دی اوکه ددوئ، ددې مطلب دادې چې زمونږ معبودان دحضرت محمد ﷺ نه غوره دې خو د خپل ځان دعبادت وينا کوی. دابن مسعود ﷺ په قرات کښې (امهذا) دې، الله ﷻ فرمائی چې دادوئ مناظره نه ده بلکه مجادله ده اومکابره ده. يعنی بې دليله جنګ او بې وجې حجت دې. دوئ په خپله پوهيږی چې نه خو زمونږ دامطلب دې اونه زمونږ دا اعتراض په دوئ وارد کيږی. په دې وجه خو دې آيت مبارک (ما) دې چې دغير عقل لرونکو دپاره دې. دريم داچې آيت مبارک خطاب دقريشو کافرانو ته دې چې هغوئ دبتانو اوکانړو عبادت کولو او مسيح عبادت کوونکو ته وو چې دا اعتراض په موقع او محل اوګنړلې شی. نودا صرف جنګ دې. يعنی هغه خبره کوی چې دهغې دصحيح کيدو ددوئ په زړونو کښې هم يقين حاصل دې. ترمذی وغيره کښې درسول الله ﷺ فرمان دې چې يو قوم تر هغه وخت پورې نه هلاکيږی ترڅو چې په هغوئ بې دليله حجت بازی شروع نشی. بيا حضرت نبی کريم ﷺ ددې آيت مبارک تلاوت اوفرمائيلو. (۳)

---

(۱) الطبری : ۶۲۵/۲۱.

(۲) احمد : ۳۱۷/۱، وهو حسن ، ابن حبان : ۶۸۱۷، مختصرا.

(۳) ترمذی کتاب تفسير القران باب ومن سورة الزخرف : ۳۲۵۳، وسنده حسن ،ابن ماجه : ۴۸، احمد: ۲۵۲/۵.

Scanned with Ca

د هر امت د هلاکت او گمراهئ غټ سبب مجادله او د تقدیر نه انکار وو: ابن ابی حاتم کښې دی چې د حدیث پاک په شروع کښې هم دادی چې دهرامت دگمراهئ اوله خبره دخپل نبی ﷺ نه پس دتقدیر نه انکار کول دی(۱) ابن جریر کښې دی چې یوځل حضرت نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو ؓ یو ډله کښې حاضر شو ،اوهغه وخت کښې هغوئ دقران پاک په آیتونو کښې بحث کولو. حضرت نبی کریم ﷺ په غصه شواو وې فرمائیل چې داسې دالله ﷻ په قران پاک کښې په آیتونو کښې تکراؤنه شته دې ، یاد ساتئ ستاسو پشان دجنګ کولو دې عادت ستاسونه مخکښې خلق هم ګمراه کړی وو. بیا حضرت نبی کریم ﷺ ﴿مَاضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ﴾ تلات اوفرمائیلو (۲). بیا ارشاد اوشو چې حضرت عیسی ؑ په بندګانو کښې یو بنده دې چې الله ﷻ ورته نبوت اورسالت ورکړې دې .اوهغه الله ﷻ د قدرت یوه نښه جوړه کړه او بنی اسرائیلو ته ئې لیږلې وو چې هغوئ په دې پوهه شی چې الله ﷻ څه غواړی په هغې قادر دې بیا ارشاد دې که مونږ غواړو نوستاسو جانشین به په زمکه فرښتې جوړ کړو . لکه څنګه چې تاسو دبل جانشین جوړیږئ .داخبره مو په هغوئ مقرر کړې وه .دواړو صورتونو کښې یو مطلب دې حضرت مجاهد ؒ فرمائی چې ستاسو په ځائې به مونږ هغوئ په دنیا کښې آباد کړی وې (۳). ددې نه پس فرمائی چې هغه دقیامت نښه ده. ددې مطلب دادې چې کوم ابن اسحاق ؒ بیان کړې دې. خو هغه صحیح نه دې . اوددې نه زیاته واضه خبره داده چې حضرت قتاده ، ؒ ، حضرت حسن ؒ ، او حضرت سعید بن جبیر ؒ فرمائی چې د (ه) ضمیر مرجع عائد دې ، حضرت عیسی ؑ یعنی حضرت عیسی ؑ د قیامت د نښو نه یو نښه دې ځکه چې دمخکښې نه دهغوئ بیان راروان دې اوداهم واضح دی چې دې نه مراد د حضرت عیسی ؑ دقیامت نه مخکښې نازلیدل دی لکه چې الله ﷻ فرمائی چې ﴿ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ﴾ یعنی دهغوئ دمرګ نه مخکښې به اهل کتاب په هغوئ ایمان راوړی .یعنی حضرت عیسی ؑ دمرګ نه مخکښې به دوئ دقیامت په ورځ په هغوئ ګواه وی ،ددې پوره وضاحت ددې دویم آیت مبارک نه کیږی چې په هغې کښې دی چې ﴿وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾یعنی حضرت عیسی ؑ دقیامت دقائمیدونښه اوعلامت دې .حضرت مجاهد ؒ فرمائی چې دا نښه ده دقیامت دپاره دحضرت عیسی ؑ دقیامت نه مخکښې نازلیدو هم داشان روایت شوې دې(۴) حضرت ابوهریره ؓ، حضرت ابن عباس ؓ، حضرت ابوعالیه ؒ ، حضرت ابومالک ؒ ،حضرت عکرمه ؒ ،حضرت حسن ؒ ، حضرت قتاده ؒ ،حضرت ضحاک ؒ وغیره نه هم او په متواترو احادیثو کښې رسول الله ﷺ خبر ورکړې دې چې دقیامت دورځې نه مخکښې به حضرت عیسی ؑ دعادل امام او انصاف والاحاکم په حیثیت سره نازلیږی . نو تاسود قیامت راتلل بالکل یقینی اومنئ او په دې کښې هیڅ شک مه کوئی او څه چې تاسو ته کومې خبرې بیانوم نو په هغې کښې ځما اتباع کوئی . او هم دا نیغه لاره ده .هسې نه چې ستاسو ښکاره دښمن تاسو دنیغې لارې نه اوځما داطاعت نه منع نه کړی . حضرت عیسی ؑ خپل قوم ته فرمائیلی وو چې څه حکمت او نبوت سره تاسو ته راغلې یم. او په دینی امورو کښې چې ستاسو کوم اختلاف دې چې هغه رابرسیره کړم.ابن جریر ؒ فرمائی چې دا خبره ډیره ښه او بهتره ده .بیا امام صاحب ؒ ددې خلقو تردید کړې دې چې کوم داخبره کوی چې د (بعض) دلته د(کل) په معنی کښې دې اوددې دلیل کښې دلبید شعرونه پیش

---

(۱) ابن ابی حاتم.
(۲) الطبری : ۲۱/۶۳۰.
(۳) الطبری : ۲۱/۶۳۰.
(۴) الطبری : ۲۱/۶۳۲.

Scanned with Ca

کوی خو هلته هم دبعضې نه مراد دقائل خپل نفس مراددې ټول نفسونه نه . امام صاحب رحمه الله چې شعر کوم مطلب اخستې دې دا هم ممکن دې . بیافرمائی چې څه تاسو ته حکم کوم چې په دې کښې دالله ﷻ لحاظ کوئی اودهغه نه ویریږئی .او ځما اتباع کوئی،او ما چې څه راوړی دې هغه منئ او په هغې یقین ساتئ چې تاسو ټول خپله اوځه هم دهغه ذات غلام یم. هغه ته محتاج یو اودهغه د در فقیران یو ،دهغه عبادت په مونږ ټولو باندې فرض دې .هغه ذات واحد اولاشریک دې .اودا د توحید نیغه لار ده اوس خلق پخپلو کښې ډلې ډلې شوی دی . ځینې خلق حضرت عیسی علیه السلام ته دالله ﷻ بنده اورسول وائی اوداحقه ډله ده او ځینو دهغوئ باره کښې دعوی کړې ده چې نعوذبا الله هغه دالله ﷻ ځوئې دې .او ځینو وئیلی دی چې هغه په خپله الله ﷻ دې .الله ﷻ ددې دواړو دعوؤ نه پاک او اوچت دې.په دې وجه ارشاد دې چې ددې ظالمانو دپاره دقیامت په ورځ خرابی ده. دوئ ته به دقیامت په ورځ سخت دردناک عذاب ورکولې شی او سزاګانې به ورکولې شی .

هَلْ يَنْظُرُوْنَ	اِلَّا السَّاعَةَ
ایا دا خلق انتظار کوی	بس دقیامت
.....دا خلق بس دقیامت د ورځې	
اَنْ تَاْتِيَهُمْ	بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۶﴾ اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۢ بَعْضُهُمْ
چې راشی دوئ ته	ناسپه او دوئ هیڅ خبر نۀ وی دوستان به په دغه ورځ خینې دهغوئ
انتظار کوی چې ناګهانه ورته راشی	او دوئ پرې خبر هم نه وی د پرهیزګارانو نه سوا به ټول
لِبَعْضٍ عَدُوٌّ	اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۷﴾ يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ
دپاره دخینو دشمنان وی	بغیر دمتقیانونه اے بندګانو زما نشته یره په تاسو باندې
دوستان په دغه ورځ دیو بل دشمنان شی	.....اې زما بندګانو نن ورځ په تاسو هیڅ
الْيَوْمَ وَلَآ اَنْتُمْ	تَحْزَنُوْنَ ﴿۶۸﴾ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا
نن ورځ او نه به تاسو	غمژن کیږی هغه کسان چې ایمان ئې راوړو په ایتونو زمونږه
ویره نشته اونه به درباندې څه غم راشی	دا هغه کسان دی چې زمونږ په ایتونو ئې ایمان راوړې دې
وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾	اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اَنْتُمْ
او ووۀ هغوئ	مسلمانان ورته به اووئیلې شی چې ننوزئ جنت ته تاسو
اوزمونږ حکم ئې منلې دې	..... تاسو اوستاسو بیبیانې هم جنت ته په خوشحالئ
وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾	يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ
او ښځې ستاسو	چې خوشحاله به کړې شئ ګرزولې کیږی به په هغوئ باندې تالی
خوشحالئ داخل شئ	په هغې کښې به د سرو زرو د رکیبو اوګلاسونو دور چلیږی
مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ	وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ
دسرو زرو او پیالئ	اووی به په هغې کښې هغه څه چې غواړی هغه نفسونه
.....	او په هغې کښې به هغه ټول څیزونه ورکولې شی چې څه ته ئې زړه کیږی

Scanned with Ca

وَتَلَذُّ	الْاَعْيُنُ ۚ	وَاَنْتُمْ	فِيْهَا	خٰلِدُوْنَ ۝	وَتِلْكَ الْجَنَّةُ
او خوند اخلی تر		ستر گی	او تاسو به	په هغې کښې	همیشه اوسئ	او دغه جنت دې
اوستر گې پرې خوشحالیږی		اوتاسو به په کښې همیشه اوسیږئ			.....اودا هغه جنت دې

الَّتِيْ	اُوْرِثْتُمُوْهَا	بِمَا	كُنْتُمْ
هغه	اچی په میراث کښې درکړې شوې دې هغه تاسو ته	په سبب دهغې عملونو	چی وئ تاسو
چې تاسو ئې دهغه اعمالو په وجې وارثان جوړ کړې شوئ			کوم چې تاسو کړی وو

تَعْمَلُوْنَ ۝	لَكُمْ	فِيْهَا	فَاكِهَةٌ	كَثِيْرَةٌ	مِّنْهَا	تَاْكُلُوْنَ ۝
چی کول به مو	تاسو لره دی	په دې کښې	میوې	ډیرې	دهغې نه	خورئ تاسو
.....په دې کښې تاسو دپاره ډیرقسمه میوې دی					چې خوراکونه به ترې کوئ	

قوله تعالی:: اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۢ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ

دقیامت په ورځ به دغیر الله دوستی په دښمنئ کښې بدله شی :الله ﷻ فرمائی چې دامشرکان د قیامت انتظار کوئ اودا وائی چې دا بیکاره دې او ددې دراتلو وخت مقرر نه دې . دابه په دوئ باندې په ناخبر کښې ناڅاپه په دې رازی .هغه وخت کښې به دوئ ډیر پښیمانه او ډیر شرمنده وی خوبیا دهغې هیڅ فائده نه وی.دوئ دا قیامت بالکل ناممکن ګنړلې دې او داقیامت نه صرف ممکن بلکه یقنی طور سره راتلونکې دې.او په هغه وخت کښې به دهغې نه پس دوئ ته دهیڅ عمل فائده نه وی چې دالله ﷻ نه سوا چې دنورو سره دوستئ وې نو هغه به په دغه ورځ ټولې په دښمنئ بدلې شی . خو چې کومه دوستئ صرف دالله ﷻ دپاره وی هغه بۀ قائمه وی .لکه څنګه چې حضرت خلیل الله ﷺ خپل قوم ته فرمائیلی ووچې تاسو بتانو سره دوستئ جوړې کړې دی خودا صرف دنیا پورې مختص دی ، قیامت کښې به تاسو دیو بل نه انکار کوئی . بلکه په یو بل به لعنت وائې.اوستاسو ځائې بۀ جهنم وی . او ستاسوسره به دمدد کولو هیڅوک نه وی .ابن ابی حاتم کښې روایت دې امیر المومنین حضرت علی ﷺ فرمائی چې دوه مومنان خپلو کښې دوستان وی او کله چې دوئ وفات شی او دالله ﷻ د طرفنه ورته دجنت زیرې ورکړې شی نو هغه خپل دوست یادوی . او وائی چې ائې الله ﷻ فلانې سړې ځما دوست دې اوهغه به ماته ستا اوستا درسول د اطاعت حکم کولو. اودنیکئ تاکید به راته کولو. اومونږ به ئې د بدئی نه منع کولو. اوماته به ئې دایقین راکولو چې مونږ ټول به یوورځ الله ﷻ سره ملاقات کوؤ. نو ائې الله ﷻ ته هغه په حق لار ثابت قدم اوساتې . او هغه ته هم هغه اوښائې چې څه دې ماته اوخودل . ته دهغه نه هم راضی شې لکه څنګه چې ځما نه راضی شوې ئې .

نو دالله ﷻ طرفنه ورته جواب ورکولې شی چې ته بالکل بې فکره اوسه ، هغه لره چې ما څه تیار کړی دی که تا هغه لیدلې وې نو ته به په خندا شوې وې . اوته به نه خفه کیدې .بیا چې کله بل دوست وفات شی اوددوئ روحونه ملاقات اوکړی نو دابه اووئیلې شی چې ستاسو خپلو کښې څه تعلق دې . نو یو بل ته به اووائی چې دا خوځماډیر ښه رور وو .اودې خو ځما ډیر ښه ملګرې وو .او ډیر غوره دوست مې وو . هرکله چې دوه کافران خپلو کښې دوستان وی او ددوئ نه یو مړشی اودجهنم خبر ورته ورکړې شی نو دۀ ته خپل دوست رایادشی او وائی به چې فلانې ځمادوست وو، ماته ئې ستا او ستا د رسول د اتباع نه کولو حکم کولو. بدو ته به ئې رابنکلم. اونیکو نه به ئې منع کولم. او ماته به ئې ستا دملاقات یقین نه راکولو.نو ځمانه پس ته هغه ته هدایت نصیب مه کړې . چې هغه خوهغه څه اووینی چې څه ما

Scanned with Ca

اولیدل. اوهغه نه دا شان خفه شي لکه څنګه ته ځما نه خفه ئې .بیا کله هغه دویم مړ شی او د دواړو روحونه خپلو کښې یوځائې شی نو دواړو ته بهٔ اووئیلې شی چې تاسو دواړه خپل صفتونه بیان کړئی. نو هر یو به وائی چې دا ځما مشر رور او ډیر بد ملګرې وو. اودې ډیر بدترین دوست دې.

حضرت ابن عباس ؓ او حضرت مجاهد ؒ او حضرت قتاده ؒ فرمائی چې هره دوستی به د قیامت په ورځ په دښمنئ کښې بدله شی خود پرهیزګارو خلقو دوستی به په دښمنئ کښې نه بدلیږی.

حضرت ابن عساکر ؒ فرمائی چې دوه کسان دالله ﷻ دپاره یو بل سره دوستی کړې وی که یو په مشرق وی او بل به په مغرب کښې وی خو الله ﷻ به دوئ د قیامت په ورځ یوځائې کړی اودوئ به وائی چې دا هغه کس دي چې ځما ډیر خوښ وو.(۱)

قوله تعالی:: يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ

متقیان به د قیامت په ورځ د هرې ویرې او هیبت نه په امن کښې وی::بیا فرمائی چې دې متقیانو ته به دقیامت په ورځ اووئیلې شی چې تاسو د ویرې او هیبت نه لرې یئ اوتاسو په هر امن او راحت کښې یئ .اوداستاسود ایمان اواسلام بدله ده .یعنی باطن کښې یقین اواعتماد اوظاهر کښې په شریعت عمل کول.حضرت معتمر بن سلیمان دخپل پلارنه نقل کوی چې دقیامت په ورځ کله چې خلق دقبرونونه راپورته کیږی نوټول به د هیبت اوویرې په حالت کښې وی .هغه وخت به یو آواز کوؤنکئ آواز لګوی چې ائې ځما بندګانو ! نن ورځ ستاسو دپاره خوشحالی ده اوستاسو دپاره هیڅ ویره نشته دې .اوتاسو دا ټول په ټوله عام اوګنړی او خوشحاله به شی .هلته به یو آواز کوؤنکئ آواز اولګوی چې دا هغه خلق دی چې هغوئ د زړهٔ دکومی ایمان راوړې وو او ددوئ بدنونو بهٔ نیک کارونه کول. دغه وخت کښې به ټول کلک ایمان والا مسلمانانو نه سوا نور ټول مایوسه شی .بیا به دوئ ته اووئیلې شی چې تاسو د نعمت او سعادت والا خلق یئ اوتاسو جنت ته داخل شئ .سورة الروم کښې ددې تفسیر تیر شوې دې.دوئ ته بهٔ دځلورو واړو طرفونه ښکلی خوراکونه په ښکلی لوښو کښې پیش کړې شی.او غلمان بهٔ ډک جامونه ګرځوی. ﴿تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ﴾ او ﴿تَشْتَهِيْهِي الْأَنْفُسُ﴾ دواړه قراتونه شته دې .یعنی دوئ ته به خوشبو والا مزیدار ، ښکلی رنګ والا ،په ښکلی لوښو کښې ورکولې شی.

دادنې جنتی درجه او د زړهٔ خواهش پوره کیدل::حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې هغه جنتی به ټولو نه ر وستو جنت ته داخلیږی چې دچا درجه ټولو نه کمه وی.دهغه نظر په دومره لرې پورې لرې لکه چې یو سړې یوکال سفر اوکړی ، هغه بهٔ خپلې ډیرې او دسرو زرو محلونه وینی .اوداټول به د رنګ رنګ سامونونو نه ډک وی سحر مانښام به دهٔ ته اویا اویا زره رکیبو کښې دبیل بیل شکل اوجدا جدا خوراک ورکولې شی.او په هغې کښې به هر یو ددهٔ خوښ وی . او د اول نه بهٔ تر آخره پورې ددهٔ شهادت برابر او یو شان وی.که په زمکې ټولوخلقو ته دعوت ورکړې نو هغه به ټولو لره کافی شی اوهیڅ کمې به رانشی (۲) .(عبدالرزاق)

ابن ابی حاتم کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ دجنت ذکر اوفرمائیلو او وې فرمائیل چې جنتی به یو نمرئی واخلی او ددهٔ په زړه کښې به خیال راشی چې دا خوراک فلانې قسم وې نو ښه به وه . نو زر به دده هغه نمرئی ددهٔ د خوښې خوراک شی . بیا حضرت نبی کریم ﷺ ددې آیت مبارک تلاوت اوکړو(۳).

---

۱) ابن عساکر.
۲) دا روایت مرسل دې.
۳) داروایت منقطع.

Scanned with Ca

مسند احمد کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې د ادنی درجې والا جنتی به هم بالاخانه کښې اووۀ چتونه وی . دې به په شپږم چت باندې وې او دده نه پورته بۀ اووم چت وی . ددۀ به ډیرش خادمان وی او هغوئ به سحر مانښام دۀ ته دسرو زرو په لوښو کښې خو راک اوشراب پیش کوی . او هر یو کښې به قسم قسم او خوندناک خوراک وی . داول نه تر آخره به ددۀ اشتها هم هغه شان وی . ده ته به درې سوه د سروزرو پیالواو پتیلو او ګلاسونو کښې د ځنبلو ځیزونه ورکولې شی . هغه به دیوبل نه ښه وی . دې بۀ اووائی چې یاالله ﷻ ! که ستا اجازت وی نو څه به ټولو جنتیانو ته دعوت ورکړم . که ټول په ټوله راشی نو ځما په خوراک کښې به څه کمې رانشی . ددوئ ښځې به بهترینې او غټوغټو سترګو والا حورې وی . اوددنیا ښځې به ئې جدا وی . په دوئ کښې به یوه یوه یو میل فاصله کښې کینی .(۱) بیا به ورته اووئیلې شی چې دا نعمتونه ستادپاره دی او دابه همیشه همیشه دپاره وی . او ته بۀ دلته همیشه همیشه ئې . نه بۀ درته مرګ رازی او نه به دلته په څه کښې کمې رازی . اونه بۀ ځائې بدلیږی او نه به درته تکلیف وی . بیا دوئ ته خپل فضل اواحسان یادوی چې ما په تاسو باندې کړې دې او دا ستاسو دعملونو په وجه دی . ځکه چې هیڅ یو بنده دخپلو عملونو نه بغیر جنت ته داخلیدلې نشی . البته د جنت په درجو کښې به فرق وی او هغه به د نیکو په وجه وی .

ابن ابی حاتم کښې دی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل جهنمیان به دجهنم نه په جنت کښې خپل ځائې وینی نو ډیرافسوس به کوی او دوئ به وائی که الله ﷻ مونږ ته هدایت کړې وې نو مونږ به هم نیک جوړشوې وې .اوهر یوجنتی به خپل ځائې جهنم کښې وښی اودالله ﷻ شکر به اداکوی .او وائی بۀ چې مونږ دا توفیق او قدرت نه لرلو چې په نیغه لار تلې وې که چرې الله ﷻ زمونږ رهنمائی نه وې کړې . دوئ فرمائی چې هرسړی دپاره یو یو ځائې جنت او جهنم کښې جوړ کړې شوې دې .نو کافر به جهنم کښې د مومن ځائې وارث وی او مومن به جنت کښې د کافر د ځائې وارث وی .او فرمان دی چې تاسو دخپلو عملونو په وجه ددې جنت وارثان یئ .دخوراک ذکر کولو نه پس اوس دمیوۀ او ترکاریانو ذکر کیږی .دا به دوئ ته په لویه توګه ددوئ د طبیعت مطابق ورکولې شی . دوئ چې څنګه غواړی او څنګه ددوئ خواهش وی نو هغه شان به ورته ملاویږی .غرض دا چې دوئ به دالله ﷻ درضا په کور کښې همیشه همیشه او پوره پوره نعمتونو سره اوسیږی . الله ﷻ دې زمونږ هم نصیب کړی آمین .

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ	فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ	خَالِدُونَ ۝	لَا يُفَتَّرُ	عَنْهُمْ	
بیشکه مجرمان خلق	په عذاب ددوزخ کښې	به همیشه وی	کم به نۀ کړې شی	دهغوئ نه عذاب	
نافرمانه خلق به همیشه په دوزخ کښې پراته وی	.....	.....	.....	عذاب به ترې سپکولې نشی	
وَهُمْ	فِيهِ	مُبْلِسُونَ ۝	وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ	وَلَٰكِن	
او هغوئ به	په هغې کښې	ناامیده پراته وی	اواونۀ کړو ظلم مونږ په هغوئ باندې	ولیکن	
اومایوسه به په کښې پراته وی	.....	.....	اومونږ پرې هیڅ ظلم نه ووکړې	خودوئ	
كَانُوا	هُمُ الظَّالِمِينَ ۝	وَنَادَوْا	يَا مَالِكُ	لِيَقْضِ	عَلَيْنَا
ووه	هغوئ ظالمان	اوآوازونه به کوی هغوئ	اے مالکه	حکم داوکړی	په مونږ باندې
پخپله (په خان باندې) ظالمان وو		او دوئ به آواز اوکړی	چې ائې مالکه ! ستا رب دې زمونږ		

(۱) احمد: ۵۳۷/۲، وسنده حسن ، مجمع الزوائد : ۴۰۰/۱۰.

رَبُّكَ ؕ	قَالَ	اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿۷۷﴾	لَقَدْ جِئْنٰكُمْ	بِالْحَقِّ
رب ستا	هغه به اووائی	بیشکه تاسو به هم دغسې پراته یئ	راوړې وو مونږ تاسو ته	حق
د مرګ فیصله اوکړې	هغه به اووائی چې تاسو به همیشه دلته پراته یئ	مونږ تاسوته رښتینې دین درلیږلې وو		
وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَكُمْ	لِلْحَقِّ	كٰرِهُوْنَ ﴿۷۸﴾	اَمْ اَبْرَمُوْٓا	اَمْرًا
ولیکن	زیات خلق ستاسو	حق لره	نه خوښونکی وو	ایا فیصله کړی وه دې خلقو	دیو کار
خو په تاسو کښې زیات خلق دحق دین نه بیزاره شول	ایا دوئ دخپلو خانونو په باره کښې څه فیصله کړې ده				
فَاِنَّا	مُبْرِمُوْنَ ﴿۷۹﴾	اَمْ يَحْسَبُوْنَ	اَنَّا	لَا نَسْمَعُ
پس بیشکه مونږه هم	فیصله کونکی یو	ایا ګمان کوی دوئ	چې بیشکه مونږه	نه اورو
خو مونږ هم د دوی په باره کښې فیصله کونکی یو	ایا ددوئ داخیال دې چې مونږ			
سِرَّهُمْ	وَنَجْوٰىهُمْ ؕ	بَلٰى	وَرُسُلُنَا	لَدَيْهِمْ
پټې خبرې ددوئ	او پټې مشورې ددوی	مونږ هر څه اورو	او فرښتې زمونږه	ددوئ سره خواته
ددوئ پټې اود راز خبرې نه اروؤ؟	ولې نه ! حالانکه زمونږ لیږلې (فرښتې) دوئ سره دی			
يَكْتُبُوْنَ ﴿۸۰﴾				
لیکل کوی				
کوی				

قوله تعالی:: اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۷۴﴾

دوزخ اوددوزخیانوحشر پورته دنیکانو خلقو حالات بیان شو، په دې وجه دلته د بدبختو خلقو حال بیانیږی. وائی چې دا به همیشه همیشه دپاره دجهنم په عذابونو کښې ګرفتار وی. یوساعت به ددوئ په عذابونو کښې کمې نه رازی. او دوئ به دې جهنم کښې ناامیده پراته وی. دهرې نیکئ نه به مایوسه شی. مونږ په چا ظلم نه کوؤ بلکه دوئ پخپلو خانونو پخپله ظلم کړې دې. مونږ رسولان اولیږل، کتابونه مو اولیږل، حجتونه مو قائم کړل. خودوئ خپله سرکشی او خپل ضد نه پریخودونو دوئ ته دهغې په وجه دا بدله ملاؤ شوه. په دوئ باندې دالله ﷻ ظلم نشته دې اونه الله ﷻ په چا باندې ظلم کوی. دا جهنیان به دجنت داروغه ته آواز کوی. صحیح بخاری کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ یو ځل په منبر ناست وو اود آیتونه ئې تلاوت کړل او وې فرمائیل چې دوئ به دمرګ ارمان کوی چې د عذاب نه خلاص شی خود الله ﷻ فیصله شوې ده، چې ﴿لایقضی علیهم فیموتوا ولا یخفف عنهم من عذابها﴾ یعنی نه به دوئ ته مرګ رازی اونه بۀ دوئ نه عذاب کمولې شی. اود الله ﷻ فرمان دې چې ﴿وَيَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَى ۙ الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى﴾ یعنی هغه بدبخت به ددې نصیحت نه جدا جدا کړې شی چې په ډیر اور کښې به وی بیا به هلته مرګ نه رازی اودوئ به ژوندی پاتې کیږی.

کله چې دجهنم داروغه ته ډیر په عاجزئی سره اووائی چې ته الله ﷻ نه زمونږ دمرګ سوال اوکړه نوهغه به جواب کښې اووائی چې تاسو به اوس دلته پراته یئ اومرګ به درته نه رازی. حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چې مکث زرکاله ته وائی. یعنی نه به مری اونه به رغیږی او نه به تیخته کولې شی. بیا به ددوئ غلط کارونه چې کله مونږ حق اولیږلو اوهغه مونږ بنکاره کړونوددوئ منل خولا څه کوی چې ددې نه ئې نفرت کولو، ددوئ طبیعت دې طرفته نه مائل کیدو. حق او حق والو نه به ئې نفرت کولو. اوددې نه بۀ

Scanned with Ca

نه منع کیدل هغه خلقو ته مائل وو چې په حق نه وو. اوهغوئ سره ئې جوړ برابر وو. نو تاسو خپل نفسونه ملامته کړئی او په خپل ځان باندې افسوس اوکړئی خوددې ننی افسوس هیڅ فائده نشته دې. بیا فرمائی چې ددوئ مکر او فریب ډیر زیات خراب وو. خومونږ هم دوئ سره هغه اوکړل چې څه دوئ کړی وو. دا د حضرت مجاهد رحمۃ اللہ علیہ تفسیر دې او ددې شهادت په دې آیت مبارک کښې دې چې (وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۰﴾) یعنی مکر ئې اوکړو اومونږ هم ورسره مکر اوکړو او دوئ ته معلوم نه وو. مشرکانو دوئ دحق نه منع کولو دپاره رنګ په رنګ حیلی کولې او جوړولې ئې. الله ﷻ هم دوئ په دهوکه کښې اوساتل اودهغې وبال اوګناه ددوئ په سر راغله. اوددوئ سترګې بندې پاتې شوې. په دې وجه فرمائی چې ولې ددوئ ګمان دې چې مونږ ددوئ پټې خبرې نه آورو؟ ددوئ داګمان بالکل غلط دې اومونږ ددوئ دهر څه نه واقف یو، بلکه زمونږ مقرر شوې فرښتې دوئ سره دی چې صرف ګوری بلکه هرڅه لیکی.

قُلْ	اِنْ كَانَ	لِلرَّحْمٰنِ	وَلَدٌ ۖ	فَاَنَا
اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۱﴾				
ورته اووایه	که چرې وې	رحمن لره	اولاد	پس زهٔ به وې	اول د عبادت کونکونه
(ائې نبی) اووایه که چرې درحمان (الله) اولاد وې نودتولو نه وړاندې به ما دهغه عبادت کولو				
سُبْحٰنَ	رَبِّ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	رَبِّ الْعَرْشِ	عَمَّا
پاکی ده	درب داسمانونو	او دزمکې لره	مالك دعرش لره	دهغه خبرونه
پاک دې داسمانونو اودزمکې رب چې دعرش مالک دې	د هغه ټولو خبرونه چې دوئ ئې			
يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾	فَذَرْهُمْ	يَخُوْضُوْا	وَيَلْعَبُوْا	
چې جوړوی ئې دا خلق	پس پریږده دوئ	چې مشغوله وی به بحث کښې	اولوبې کوی	
بیانوی	.....نودوئ په خپلو شغلونو او لوبو کښې پراته پریږده			
حَتّٰى	يُلٰقُوْا	يَوْمَهُمُ	الَّذِيْ	يُوْعَدُوْنَ ﴿۸۳﴾
تر دې پورې	چې ملاقات اوکړی	دورځې خپلې سره	هغه ورځ	چې دکومې نه یرولې کیږی دوئ
تردې چې هغه ورځ راشی	دکومې چې دوئ سره وعده کولې شی			
وَهُوَ	الَّذِيْ	فِي السَّمَآءِ	اِلٰهٌ	وَّفِي الْاَرْضِ	اِلٰهٌ ؕ
او هغه	هغه ذات دې	چې په اسمان کښې	معبود دې	او په زمکه کښې	هم معبود دې
او الله ﷻ هغه ذات دې چې په اسمانونو کښې هم معبود دې	او په زمکه کښې هم معبود دې				
وَهُوَ الْحَكِيْمُ	الْعَلِيْمُ ﴿۸۴﴾	وَتَبٰرَكَ	الَّذِيْ	لَهٗ
او هغه دحکمت خاوند دې	او عالم دې	او برکتناك دې	هغه ذات	چې هغه لره ده
اوهغه د حکمت خاوند او پوهه ذات دې	..... او الله ﷻ ډیر مبارک ذات دې			
مُلْكُ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ	وَعِنْدَهٗ
بادشاهی داسمانونو	او دزمکې	او دهغې چې په منځ ددې دواړو کښې دی	او دهغه سره دې
چې داسمانونو اود زمکې اود دواړو په مینځ کښې چې څه دی د ټولو بادشاه دې			

Scanned with Ca

عِلْمُ السَّاعَةِ	وَإِلَيْهِ	تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾	وَلَا يَمْلِكُ	الَّذِينَ
علم دقیامت	او خاص هغه ته به	تاسو واپس بوتلې کیږئ	اونۀ لری اختیار	هغه خدایان
اوهغه ته دقیامت (وخت) معلوم دي	اوتاسوټول به ورته واپس کیږئ	اودوئ چې دالله ﷻ نه سوا		
يَدْعُونَ	مِن دُونِهِ	الشَّفَاعَةَ	إِلَّا	مَن	شَهِدَ	بِالْحَقِّ
چې رابلی نې دوئ	بې دهغه نه	دشفاعت	مګر	هغه څوک	چې ګواهی اوکړی	په حقه سره
دکومو معبودانو عبادت کوی	اهغوئ ته دسفارش کولو هیڅ اختیار نشته	اخوچا چې دحقې خبرې اقرار اوکړو				
وَهُمْ	يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾	وَلَئِن	سَأَلْتَهُم	مَّنْ خَلَقَهُمْ
او هغوئ	پوهه لری	او که چری	تپوس اوکړې ته ددوئ نه	چې چاپیدا کړی دی دوئ
او په هغې پوهه لري	(نوهغوئ به سفارش کولې شی) او که ته ددوئ نه تپوس اوکړې چې تاسو چاپیدا کړی یئ			
لَيَقُولُنَّ	اللَّهُ	فَأَنَّىٰ	يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾	وَقِيلِهِ
نو اویه وائی خامخا	چې الله	پس کوم طرفته	ګرځولې کیږی دوئ	اوقسم دې په دې وینا درسول
نو خامخا به وائی	چې الله ﷻ (پیدا کړی یو)	نوبیا دوئ کوم اړخ ته اړولې شی	او الله ﷻ ته د (رسول)	
يَا رَبِّ	إِنَّ هَٰؤُلَاءِ	قَوْمٌ	لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾	فَاصْفَحْ	عَنْهُمْ
چې اے ربه	بیشکه دا خلق	داسې قوم دې	چې ایمان نۀ راوړی	پس مخ واړوه	ددوئ نه
داوینا هم معلومه ده	چې اې ربه دا داسې خلق دی چې په هیڅ وجه ایمان نه راوړی	(نواې نبی) ته ددوئ			
وَقُلْ	سَلَامٌ	فَسَوْفَ	يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾
اواووایه	سلام دې تاسو ته	پس ډیر زر به	پوهه شی دوئ	
نه مخ واړوه	اوو رته اووایه چې زۀ درته سلام کوم	نوزرده چې حقیقت به ورته معلوم شی		

قوله تعالی:: قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ

د جهالت او خباثت انتها شرک دي :: اې نبی ﷺ الله اعلان اوکړه چې فرض کړه کافران دالله ﷻ اولاد وې نو ماته په سرتیټولو کښې څه ضرورت وو نه به ما هغه دفرمان نه سر اړولو اونه به مې دهغه حکم نه انکار کولو. که چرته داسې وې نو ما به ټولو نه مخکښې منلو اواقرار به مې کولو خودالله ﷻ شان د انه دې.نه خودهغه څوک برابر شته اونه دهغه څوک برابر شته دې یادساتئ چې کوم کلام راشی نو د هغې په واقعه کښې راتلل ضروری نه وی بلکه امکان نې هم ضروری نه وی ، لکه چې دالله ﷻ فرمان دې چې ﴿لَوْ أَرَادَ اللّٰهُ أَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى﴾ یعنی که الله ﷻ داولاد خواهش لرلونو په مخلوق کښې به نې چې څوک خوښ وو هغه به نې جوړ کړې وې خودهغه ذات ددې نه پاک اودهغه وحدانیت دشان نه خلاف دی .دهغه قهاریت او غلبه ددې نه خلاف ده .ځینې مفسرینو دعابدین معنی دانکار هم کړې ده.لکه حضرت سفیان ثوری رحمۃ اللہ علیہ صحیح بخاری کښې دی چې عابدین نه مراد دې خائې کښې اول الجاحدین، دې،یعنی اول انکار کوونکی او داد عبد یعبد باب نه دې.اوکه د عبادت په معنی کښې وی نو هغه بۀ د عبدیعبد نه وی . ددې شهادت کښې د ا واقعه هم ده چې د یوې ښځې د نکاح نه شپږ میاشتې پس بچې پیدا شو نو حضرت عثمان ﷺ دهغې درجم کولو حکم ورکړو خو حضرت علی ﷺ دهغې مخالفت

اوکړو اووې فرمائیل چې دالله ﷻ کتاب کښې دی چې ﴿اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ﴾ یعنی دحمل اود پئیو نه دماشوم شوکولو موده دوه نیم کاله ده بل ځائې کښې دی چې ﴿وَفِصٰلُهٗ فِیْ عَامَیْنِ﴾ د دوؤکالو دننه دننه دماشوم دتې نه دشوکولو موده ده. نو حضرت عثمان ﷺ ددې نه انکار اونه کړې شو. او زرئې سړې اولیږلو چې هغه ښځه واپس کړئی. دلته هم لفظ د عبد دې یعنی انکار ئې اونه کړې شو. ابن وهب وائی چې دعبد معنی انکار کول دی. دشاعرپه شعر کښې هم عبد دانکار کولو اونه منلو په معنی کښې دې. خوپدې قول کښې نظر دې. پدې وجه د شرط جواب کښې دا صحیح نه ښکاری ددې دمنلو نه پس به مطلب داوی که درحمان اولاد وې نو اول منکر ځه یم. او په دې کښې دکلام ښائست قائم نه پاتې کیږی. خو صرف دومره وئیلې شی چې (ان) دشرط دپاره نه دې بلکه دنفی دپاره دې لکه چې حضرت ابن عباس ﷺ نه نقل دی. نواوس به دکلام مضمون داسې وی چې درحمان اولاد نشته او ځه ددې اول گواه یم.

حضرت قتاده ﷺ فرمائی چې دعربو دمحاورې مطابق دې یعنی نه درحمان اولادشته اونه ځه دهغه عابد اومنکریم. ابو صخر ﷺ فرمائی چې ددې مطلب دادې چې ځه اول نه دهغه عبادت کونکې یم چې دهغه اولاد نشته اوځه دهغه په توحید منلو کښې هم ډیر مخکښې یم. حضرت مجاهد ﷺ فرمائی چې ځه دهغه اولنې عبادت کونکې یم او موحد یم او ستاسو تکذیب کونکې یم. دا دواړه په لغت کښې عابداوعبد اود اول نه زیات نزدې دی په دې وجه داشرط اوجزا ده خو دانامکن او محال دی. حضرت سدی ﷺ فرمائی که دهغه اولاد وې نو مابه اول منلې وې چې دهغه اولاد شته خو هغه ذات ددې نه پاک دې. ابن جریر ﷺ داخبره خوښوی اوچې کوم خلق (ان) نافیه بیانوی دهغوئ دخبر تردید کوی په دې وجه الله ﷻ فرمائی چې دآسمان او زمکې او دټولو ځیزونو خالق ددې نه ډیر پاک اولړې دې چې د هغه اولاد وی هغه ذات ددې نه پاک دې هغه واحد دې اوصمد دې. دهغه مثل اوهم سر نشته دې. ارشاد دې چې ائې نبی ﷺ! دوئ په خپل جهالت کښې پریږده چې اخته وی. اودوئ پریږده چې د دنیاپه لوبو توقوکښې مشغول وی. اودې غفلت کښې به په دوئ باندې قیامت رازی. هغه وخت به دوئ ته معلوم شی

قوله تعالیٰ:: وَهُوَ الَّذِیْ فِی السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِی الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ

دالله ﷻ دنورو قدرتونو بیان: بیاهغه ذات دخپلې بزرگئ اوجلال بیان جاری ساتی. چې دزمکې او آسمان ټول مخلوقات دهغه عبادت کوی او دهغه نه پست او عاجز دی. هغه خبیر او علیم ذات دې. ځنګه چې بل آیت مبارک کښې دی چې په زمکه او آسمان کښې هغه الله ﷻ دې چې دهر پټ ځیزاوستاسو دهریو عمل نه خبر دار دې. هغه ذات دټولو مالک اوخالق دې. او د ټولو پیداکولووالا اوجوړولو والا دې. او د هغه ذات په ټولوحکومت دې. اوهغه ډیربرکت والا ذات دې. هغه عالی شان ذات دټولو عیبونو او نقصانونونه پاک دې. هغه د ټولو مالک دې، هغه اوچت اوعظمت والا دې، هیڅوک داسې نشته چې دهغه حکم بدل کړی اوهیڅوک داسې نشته دې چې دهغه خوښه بدله کړی. هغه ذات په هر څه قادر اوهر یو کاردهغه په قبضه کښې دې. د قیامت دراتلو علم صرف هغه ذات ته شته دې. دهغه ذات نه سوا بل هیچا ته د قیامت دراتلو علم نشته دې. ټول خلق به هغه ذات طرفته واپس کیږی. اوهغه ذات به هریو ته دخپل خپل عمل بدله ورکوی. بیاارشاددې چې ددې کافرانوباطل معبودان چې دوئ ئې خپل سفار شیان ګڼړی په دوئ کښې یوتن هم دسفارش دپاره نشی راتلئ اونه به دهغوئ شفاعت کار ورکوی. دې نه پس استثناء منقطع ده. یعنی چې کوم بنده دحق اقرارکوی او ګواه وی او خپله هم بصیرت اوبصارت یعنی علم او معرفت والا ذات دې اودالله ﷻ ذات اودالله ﷻ په حکم به دهغه شفاعت دخلقو دپاره

مفیدوی .که چرته تاسو دوئ نه تپوس اوکړئی چې ددوئ خالق څوک دی ؟نو دوئ به اقرار اوکړی چې الله ﷻ،خو دافسوس خبره داده چې خالق دوئ یو منی اوعبادت دنورو کوی .دوئ ببخی مجبوره اوبې وسه دی اودعقل نه کار نه اخلی .هرکله چې هغه ذات پیدا کړو نو ولې دې مونږ دنورو عبادت اوکړو؟ جهالت اوخباثت ئې دومره سوا شوې دې چې سمه اوساده خبره تر مرګه پورې ددې په پوهه کښې رانغله .بلکه دپوهه کولونه پس هم په دې پوهه نشو .په دې وجه په حیرانئ سره ارشاد دې چې دومره منلو نه پس هم ځانونه رندوی .بیا ارشاد دې چې حضرت محمد ﷺ خپله داوینا یعنی خپل رب ته ئې شکایت اوکړواود خپل قوم تکذیب ئې بیان کړو چې دوئ ایمان نه قبلوی لکه چې بل آیت مبارک کښې دی چې ﴿وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا﴾ یعنی نبی کریم ﷺ به دالله ﷻ مخکښې دا شکایت کوی چې زما امت داقران پریخودلو.

امام ابن جریر رحمه الله هم دا تفسیر کوی، امام بخاری رحمه الله فرمائی چې د ابن مسعود ﷺ په قرات کښې دی چې ﴿وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ هٰؤُلَاءِ﴾ حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چې دخپل نبی ﷺ خبره نقل کوی ، حضرت قتاده فرمائی چې دا ستاسو دنبی ﷺ خبره ده دخپل رب په مخکښې دخپل امت شکایت کوی،ابن جریر رحمه الله د(قیله) دویم قرات دلام په زیر سره هم نقل کړې دې .ددې یو توجیه خوداکیدیشی چې (نسمع سرهم ونجوهم) باندې معطوف دې ، دویم داکه مقدر فعل اوګنړلې شی یعنی (قال) مقدر اوګنړلې شی، دویم قرات یعنی د لام په زیر سره چې کله وی نو دا به عطف وی ﴿وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾ باندې نو تقدیر به داسې وی چې دقیامت علم اوددې قول علم دهغه سره دې،دسورة په ختمیدو ارشاد فرمائیلې شی چې د مشرانو نه مخ واړوه او ددوئ دبدزبانئ او بد کلامئ جواب مه ورکوئی.بلکه ددوئ د زړونو نرموپه خاطر دوئ سره په قول اوفعل کښې نرمی کوه او ورته وایه چې سلام دې .دوئ ته به هم حقیقت معلوم شی.په دې کښې درب العالمین دطرفنه دمشرکانو دپاره ډیر زبردسته درکه ده اودا هم اوشوه .په دوئ عذاب راغلې دې چې ددوئ نه اخوانشی الله ﷻ خپل دین پورته کړواوخپله کلمه ئې څلورو واړو طرفونو ته خوره کړه . خپل موحدین او مومنان ئې مضبوط کړل او قوی ئې کړل او بیا ئې دوئ سره دجهاداوجلاوطن کولو احکام ورکړول اودغه شان ئې په دنیا کښې غالب کړل،دالله ﷻ په دین کښې بې شمیره خلق داخل شواوپه مشرق اومغرب کښې اسلام خور شو،فالحمدلله ، والله اعلم.

دالله ﷻ فضل وکرم سره د سورة زخرف تفسیر ختم شو

دسورة دخان تفسیر

ترمذی شریف کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې کوم سړي د شپې سورة حم دخان لولی دهغه دپاره اویازره فرښتې تر سحره پورې استغفار وائی (۱)داحدیث پاک غریب دې اوددې یو راوی .عمرو بن ابی خثعم ضعیف دې.امام بخاری رحمه الله ورته منکر الحدیث وائی.دترمذی شریف په یو بل حدیث پاک کښې دی چې چا داسورة د جمعې په شپه تلاوت کړو نودې سره دهغه ګناهونه معاف کیږی(۲)دا حدیث پاک هم غریب دې او ددې یو راوی ابوالمقدام هشام ضعیف دې اودویم راوی حضرت حسن دحضرت ابوهریره ﷺ نه اوریدل ثابت نه دې، مسند بزار کښې دی چې حضرت رسول

---

(۱) ترمذی کتاب فضائل القران باب ما جاء فی فضل حم الدخان: ۲۸۸۸، شعب الایمان: ۲٤٤٦، کتاب الموضات : ۲٤۸/۱.

(۲) ترمذی حوالا سابق : ۲۸۸۹، شعب الایمان: ۲٤۷٦، .

Scanned with Ca

کریم ﷺ دابن صیاد په مخکښې خپل زړه کښې یو خبره پټه کړو اوهغه نه ټپوس اوکړو چې زما په زړه کښې څه دی ؟ هغه اووئیل چې دغ ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې بس دې لرې شه. نامراده پاتې شو ، چې څۀ الله ﷻ کوی هغه کیږی ، بیا حضور ﷺ راواپس شو. (۱)

ایاتونه	سورة الدخان مكية وهي تسع وخمسون اية وثلاث ركوعات	رکوع ګانې
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
۵۹	شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې	۳
حٰمٓ ①	وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ②	اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ
ح م | قسم دې په کتاب بیانونکی باندې | بیشکه نازل کړې دې مونږه دا کتاب |		
حم | په دې واضحه کتاب باندې قسم دې | مونږ داکتاب په یوه برکتی شپه کښې		
فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ	اِنَّا كُنَّا	مُنْذِرِيْنَ ③ فِيْهَا يُفْرَقُ
په شپه برکتناکه کښې | بیشکه مونږه یو | خبردارونکی | په دې شپه کښې | فیصله کولې شی |		
نازل کړې دې | بیشکه مونږ (د عذاب) نه ویرونکې یو | .....په دې شپه کښې هره		
كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ۙ ④	اَمْرًا	مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ۚ ⑤
دهر کار | حکمتناك | په حکم سره | دطرفه زمونږ نه | بیشکه مونږه یو | لیږونکی دیو رسول |		
دحکمت معامله زمونږ په حکم سره فیصله کیږی | اومونږ د دې حکمونو لیږونکی یو |		
رَحْمَةً	مِّنْ رَّبِّكَ ؕ	اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۙ ⑥
دپاره درحمت | دطرفه درب ستا نه | بیشکه هغه | هم هغه اوریدونکی | دهر څه نه خبر دې |		
دا ستا درب مهربانی ده | .....بیشکه هغه هر څه اوری | او په هرڅه پوهه دې		
رَبِّ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ
چې رب داسمانونو او دزمکې دې | او دهغې چې په منځ ددې دواړو کښې دی | که یې تاسو |		
د اسمانونو او د زمکې اوددې په مینځ کښې چې څه دی د ټولو رب دې | که تاسو پرې		
مُّوْقِنِيْنَ ⑦	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ
یقین کونکی | نشته لائق دعبادت | مګر هم هغه دې | چې ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی |		
یقین کوئ | د هغه نه سوا بل هیڅوک دعبادت لائق نشته | هم هغه ژوندې کول کوی او مړه کول کوی		
رَبُّكُمْ	وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ	الْاَوَّلِيْنَ ⑧
رب ستاسو دې | او رب دپلارانو ستاسو | رومبنو دې |		
ستاسو او ستاسود پلار نیکه ټولو رب دې |		

(۱) البزار : ۳۳۹۹، طبرانی : ٤٦٦٦، .

قوله تعالی:: فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

شب قدر په رمضان کښې دي په شعبان کښې نه: الله ﷻ بیان کوی چې دا عظیم الشان قرآن پاک په ډیره برکت والا شپه کښې یعنی دلیلة القدر په شپه کښې نازل شوې دې . لکه چې ارشاد دې چې ﴿اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ مونږ داقران پاک دلیلة القدر په شپه نازل کړې دې اوداشپه په رمضان المبارک کښې ده، لکه چې یو بل آیت مبارک کښې دی چې ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْۤ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ﴾ درمضان میاشت هغه میاشت ده چې په دې کښې قران پاک نازل شوې دې .سورة بقرة کښې ددې پوره تفسیر تیر شوې دې .په دې وجه دلته ئې د دوباره بیانولو ضرورت نشته دې .ځینې خلقو داهم وئیلی دې چې هغه مبارکه شپه چې په هغې کښې قران پاک نازل شوې دې هغه شپه د شعبان پنځلسمه شپه ده .خو ددې قول هډو دلیل نشته دې .ځکه چې دقران پاک نص نه دقران کریم په رمضان کښې نازلیدل ثابت دی او چې په کوم حدیث پاک کښې دا روایت دې چې په شعبان کښې تربل شعبان پورې ټول کارونه مقررولې شی تر دې چې نکاح او اولاد اومړۀ کیدل هم ، هغه حدیث پاک مرسل دې .او داسې احادیث د قرانی نص معارضه نشی کولې .مونږ د خلقو خبرداری دپاره یویعنی دوئ ته خیراو شر،نیکی اوبدی بنایو چې په مخلوق حجت ثابت شی .او خلق شرعی علم حاصل کړی .دې شپه کښې هرمحکم کار کولې شی یعنی د لوح محفوظ نه کاتبانو فرښتو ته حواله کړې شی . داټول اهم کارونه لکه عمر ، روزۍ ، وغیره ټول په دې شپه کښې مقررولې شی . د حکیم معنی محکم او مضبوط ده چې بدلیږی نه . هغه ټول زمونږ په حکم کښې دی مونږ درسولانو لیږونکی یو چې ددې رحمت کوؤنکئ دقران پاک نازلیدو والا او درسولانو رالیږونکئ هغه الله ﷻ دې چې دآسمان او زمکې اوټولو څیزونو مالک دې او دټولو خالق دې . که تاسو چرې یقین کوئی نومونږ سره ددې باور درکولو ډیر کافی وجې موجود دی . بیا ارشاد دې چې برحق معبود صرف هغه دې چې دهغه نه سوا بل څوک دعبادت لائق نشته دې . دهریو مرګ او ژوند دهغه په لاس کښې دې . ستاسو او ستاسو نه دمخکښې ټولو پالونکې دې . ددې آیت مبارک په شان په دې آیت کښې هم دی چې ﴿قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا﴾ یعنی ته اعلان اوکړه چې ائې خلقو زۀ تاسو ټولو ته د الله ﷻ رسول یم .دهغه الله ﷻ چې دزمکې اوآسمان باشاهی دهغه ده اودهغه نه سوابل څوک معبود نشته،اوهغه ژوندی کول او مړۀ کول کوی .

				بَلْ هُمْ	فِيْ شَكٍّ
				بلکه دا خلق	په شك کښې دی
				خو دا خلق په شک کښې پراته دی	
يَّلْعَبُوْنَ ۝	فَارْتَقِبْ	يَوْمَ	تَاْتِي السَّمَآءُ	بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ۝	
لوبې کوی	پس انتظار کوه	دهغه ورځ	چې راشی آسمان	دلوګی ښکاره سره	
په لوبو کښې اخته دی	نود هغې ورځې انتظار کوه	چې آسمان به په ښکاره لوګی سره راشی.			
يَّغْشَى	النَّاسَ ؕ	هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝	رَبَّنَا	اكْشِفْ	
چې ورخوریږی به	په خلقو	دا عذاب دې دردناك	اے ربه زمونږه	لرې کړه زمونږ نه	
خلق به ټول پټ کړی	..... دغه بۀ ډیر دردناک عذاب وی	دوی به وائی، ائې زمونږ ربه ! داعذاب			

Scanned with Ca

عَنَّا الْعَذَابَ	إِنَّا	مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾	أَنَّىٰ	لَهُمُ الذِّكْرَىٰ
عذاب	بیشکه مونږ	ایمان راوړونکی یو	څرنګ به فائده مندشی	دپاره ددوئ نصیحت
لري کړه	مونږ یقین کونکی یو	.....	دوئ به کله نصیحت قبول کړی	

وَقَدْ جَاءَهُمْ	رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾	ثُمَّ تَوَلَّوْا	عَنْهُ	وَقَالُوا
او حال دا چې راغې دوئ ته	رسول ښکاره کونکې	بیا اوګرزیدل دوئ	دهغه نه	اووې ونیل
حال دادې چې واضحه بیان کونکې پیغمبر ورته راغلې دې	نود دوئ نه یې مخ اوګرځولو			

مُعَلَّمٌ	مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾	إِنَّا	كَاشِفُوا	الْعَذَابِ قَلِيلًا
ښودنه شوی ده دهٔ ته	لیونې دې	بیشکه مونږه	لرې کونکی یو	دعذاب لږه موده
اودائې اووئیل	چې دهٔ ته زده کړه شوې ده	لیونې دې	مونږ به داعذاب د لرې مودې دپاره لرې کړو	

إِنَّكُمْ	عَائِدُونَ ﴿١٥﴾	يَوْمَ	نَبْطِشُ
بیشکه تاسو	دوباره کونکی یئ دکارونو خپلو	په کومه ورځ	چې مونږ نیول کوؤ
خوتاسو خپل زور حالت ته ګرځید ونکې یې	.....	په کومه ورځ چې به مونږ	

الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ ۚ	إِنَّا	مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾
نیول لوئ	بیشکه مونږه	بدل اغستونکی یو
سخت نیول اوکړو	مونږ خامخا بدله اخستونکې یو	

قوله تعالیٰ:: يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾

لوکې په کافرانو فرمائی چې حق راغلو او دوئ په شک کښې پراته دی اوپه لهولعب کښې اخته دی. دوئ دهغې ورځې نه خبر کړه چې په هغې کومه ورځ به په آسمان سخت لوګې راشی مسروق رحمہ اللہ فرمائی چې مونږ یوځل دکوفې یومسجد ته لاړو نو ما اولیدل چې یو سړې ناست دې قصې کوی. فرمائی چې په دې آیت مبارک کښې دکوم لرګی ذکرشوې دې دهغې نه مراد هغه لرګې دې چې دقیامت په ورځ به دمنافقانو په غوږونو اوسترګو اچولې شی اود مومنانو دپاره به د زکام په شان وی. مونږ چې کله دهغه نه واپس شواوحضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ ته مو ددې ذکر اوکړو نودوئ ملاست اوبې تابه وو او بیا کیناستل اووې فرمائیل چې الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته فرمائیلی دی چې اووایه چې څه ستا نه په دې څه بدل نه اخلم اوځه تکلیف ورکونکئ نه یم داهم علم دې چې کله یو انسان په یو څیز نه پوهیږی. نوراوې اووائی چې الله ﷻ ته علم دې، واورئی چې څه تاسو ته ددې ایت مبارک صحیح مطلب واضح کوم. هرکله چې قریشو اسلام قبلولو کښې دیر وخت تیر کړواوحضرت نبی کریم ﷺ ته ئې تکلیفونه ورکول شروع کړل نوحضرت نبی کریم ﷺ دوئ ته بددعا اوکړه چې دیوسف علیہ السلام دزمانې په شان قحط راغلواومرداري خوړل شروع شوه. اواسمان طرفته ئې سترګې نیولې وې. نودلوګی نه سوا ورته بل څه نه ښکاریدل. یو روایت کښې دی چې دلوګی په وجه به په دوئ سرګرځیدو: کله چې به ئې آسمان

طرفته اوکتل نو مینځ کښې به ورته یو لوګي ښکاریدو(۱) ددې بیان په دې دوه ایتونو مبارکو کښې دې بیا خلق دې نه پس دنبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو اود خپل هلاکت شکایت ئې اوکړو. نو رسول الله ﷺ ته په دوئ ترس راغلو او حضرت نبی کریم ﷺ الله ﷻ ته سوال اوکړو نو باران اوشو ددې بیان راتلونکی آیت مبارک کښې راروان دې. خو کله چې عذاب لرې شو نودوئ بیا کفر شروع کړو. ددې نه معلوم شو چې دا ددنیا عذاب دې ځکه چې دآخرت عذاب نه لرې کیږی اونه ختمیږی.

پنځه ځیزونه واقع شوی دی: دحضرت ابن مسعود ؓ قول دې چې پنځه ځیزونه تیر شوی دی① دخان ②قمر ③ روم ④ بطشه او ⑤ لزام.(۲) (صحیحین). یعنی د آسمان نه لوګي راتلل د رومیانو خپل شکست نه پس فتح موندل. د سپورمئ دوه ټکړې کیدل. دبدر جنګ کښې دکافرانو ماتې خوړل او نیول. او دانښتونکی عذاب نه مراد دبدر په ورځ کښې جنګ دې. حضرت ابن مسعود ؓ، حضرت نخعی ؒ، حضرت ضحاک ؒ، حضرت عطیه عوفی ؒ، وغیره داسې وائی(۳) او ابن جریر هم ورته ترجیح ورکوی. دعبدالرحمان او اعرج نه روایت دې چې دا دمکې دفتح په ورځ اوشو دا خبره ډیره غریبه بلکه منکره ده.

دقیامت لوکې: اوځینې بزرګان وائی چې د انه دې تیر شوې. بلکه دا به قیامت ته نزدې رازی. اول حدیث پاک تیر شوې دې. کله چې حضرت نبی کریم ﷺ تشریف راوړو اوحضرات صحابه کرامو ؓ د قیامت ذکر کولو. نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ترکومې لس نښې ښکاره شوې نه وی نو قیامت به نه رازی. دنمر دمغرب نه را ختل، لوګي، یاجوج ماجوج، راوتل، د حضرت عیسی ؑ نازلیدل، ددجال راتلل، مشرق او مغرب کښې اوجزیره کښې خسف کیدل، دعدن نه اور راوتل چې خلق به راجمع کوی. چرته چې دوئ شپه تیروی نو هغه به ورسره وی، او چرته چې د غرمې اودۀ کیږی نوهغه به ورسره وی(۴) (مسلم) بخاری شریف اومسلم شریف کښې دی چې رسول الله ﷺ خپل زړه مبارک کښې دابن صیاد نه ﴿فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ﴾ پټ کړواو ورته ئې اووئیل چې اووایه چې ځما په زړه کښې څه دی؟نوهغه اووئیل چې دخ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې برباد شې چې ددې نه مخکښې نه ځې(۵) په دې کښې هم یو اشاره ده چې دهغې لا انتظار دې اودا یو راتلونکې ځیز دې. ځکه چې ابن صیاد به د کاهنانو په شان ځینې دزړونو خبرې خودلې. اوددې دعوی ئې کوله نو حضرت نبی کریم ﷺ خلق ددۀ دحالت نه خبر کړل چې دۀ سره شیطان دې، کلام پټوی اودې ددې نه زیات هیڅ نشی وئیلې.

دقیامت نخښې: ابن جریر کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې دقیامت اولنۍ نخښې دادی(۱) ددجال راتلل(۲) دحضرت عیسی ؑ راتلل(۳) دعدن دمینځ نه اور راوتل چې خلق به محشر طرفته شړی. دغرمې د آرام کولو په وخت کښې به هم ورسره وی اودشپې په وخت کښې به هم ورسره وی او داودۀ کیدو په وخت کښې به هم دوئ سره وی.(۴) اولوګي راتلل. حضرت حذیفه ؓ تپوس اوکړو چې یارسول الله ﷺ ! لوګي څنګه ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارک اولوستلو اووې فرمائیل چې د

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الدخان باب ((یغشی الناس هذا عذاب الیم ...)) : ۴۸۲۱، صحیح مسلم: ۲۷۹۸، ترمذی : ۳۲۵۴.

۲) صحیح بخاری حوالا سابق : ۴۸۲۰، صحیح مسلم:۲۷۹۸

۳) الطبری ج ۱۶/۲۲.

۴) صحیح مسلم کتاب الفتن باب فی الایات التی تکون قبل الساعة: ۲۹۰۱. مسند الحمید : ۸۲۷، احمد:۶/۴.

۵) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب اذا اسلم الصبی فمات هل یصلی علیه : ۱۳۵۴. صحیح مسلم: ۲۹۳۰.

Scanned with Ca

الوګي به څلويښت ورځې وی او مسلمانانو باندې به دنزلې په شان وی، اوکافران به بې هوشه او بد مست کوی، ددوئ د سپرمو او غوږونو نه بهٔ داسې لوګي راوزی. که چرې دامعنی صحیح وی نو بیاد دخان په مقررکیدو کښې هیڅ خبره پاتې نشوه او نه پاتې کیږی خوددې حدیث پاک دصحت ګواهی نشو ورکولې. ددې راوی رواد نه محمد بن خلف عسقلانی سوال اوکړو چې آیا دسفیان ﷺ خپله داحدیث پاک آوریدلې دې، نو وې فرمائیل چې نه، نو بیا ته څنګه دابیانوې؟ نو وی فرمائیل چې داخو ما نه دې بیان کړې. څه خلق راغلل اودا حدیث پاک ئې بیان کړواوبیا لاړل او ځما په نوم ئې دا بیانول شروع کړل. هم داخبره ده چې دا حدیث پاک بالکل موضوعی دې. حضرت ابن جریر دا څلور ځایونو کښې راوړې دې، اودې کښې ډیر منکرې خبرې دی، خاص کر دمسجد اقصی بیان کښې چې دسورة بنی اسرائیل په شروع کښې دی، والله اعلم.

یو بل حدیث پاک کښې دی چې ستاسو رب تاسو ددریو څیزونو ویږوی. لوګي چې دمؤمنانو دپاره به د زکام پشان وی اودکافرانوټول بدن به پرسوی. اودهغوئ دهر اندام نه به لوګی راوزی. دابة الارض او دجال ددې سند ډیر ښه دې. حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې لوګي به خور شی. مومن دپاره به دا دزکام په شان وی اودکافرانو دهر اندام نه بهٔ لوګي راوزی. داحدیث مبارک دحضرت ابو سعید خدری ﷺ قول سره روایت شوې دې او دحضرت حسن په خپل قول سره هم روایت شوې دې. حضرت علی ﷺ فرمائی چې دخان تیر شوې نه دې بلکه د ابه رازی. دحضرت ابن عمر ﷺ نه هم د لوګی په حقله ددې پورته حدیث پاک په شان روایت شوېدې. ابن ابی ملیکه فرمائی چې څه یو ورځ سحر حضرت ابن عباس ﷺ ته ورغلم، هغوئ اوفرمائیل چې بیګاه څه بالکل نه یم اوده شوې. ماتپوس اوکړو چې ولې؟ هغوئ اوفرمائیل چې مادخلقونه واوریدل چې د لکئ والا ستوریٔ راختلې دې. نو ماسره ویره شوه چې هسې نه هغه دخان نه وی نو په دې وجه مې ترسحره پورې سترګه پټه نه کړه. ددې سند صحیح دې او د حبرالامت ترجمان القران حضرت ابن عباس ﷺ سره صحابه کرام اوتابعین هم دی اومرفوع احادیث هم شته دې چې په هغې کښې حسن اوهرقسم شته اوهغې نه ثابتیږی چې دخان یوعلامت دې چې راتلونکئ دې او دقران پاک ظاهری لفظونه هم ددې ظاهر تائید کوی څکه چې قران کریم دې ته واضح ښکاره لوګي وئیلې دې چې هر سړې به ئې وینې او دلوږی دلوګی سره ددې تعبیر کول ډیر صحیح نه دې. څکه چې هغه یو خیالی څیز دې. دلوږې او تندې په وجه دبنده دسترګو په وړاندې یو لوګي شان ښکاره کیږی چې په اصل کښې لوګي نه وی اودقران پاک الفاظ دادی چې(دُخَانٍ مُّبِيْنٍ). بیان فرمائی چې هغه بهٔ خلق پټ کړی وی. داهم دحضرت ابن عباس ﷺ دتفسیر تائید کوی څکه چې دلوږې لوګي خو صرف د مکې خلق پټ کړی وو. ټول خلق نه، بیا فرمائی چې داغمناک عذاب دې یعنی دوئ ته بهٔ دداسې وئیلې شی، لکه چې یو بل آیت مبارک کښې دی چې ﴿يَوْمَ يَدُعُّوْنَ﴾ په کومه ورځ چې دوئ جهنم ته وردا خل کړې شی چې دا هغه اور دې چې تاسو به دروغ ګڼلو. یا دا مطلب دې چې هغوئ به خپله یوبل ته داسې وائی. هرکله چې کافران اووینی نو دالله ﷻ نه به دهغې دلرې کیدودعا کوی لکه یو بل آیت مبارک کښې دی چې ﴿وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ﴾ یعنی کاش چې تاسو دوئ لیدلې وې چې کله دوئ اور سره اودرولې شی نووائی به چې کاش مونږ دنیا ته واپس کړې شو اودخپل رب آیتونو به دروغ اونه ګڼړو. اوایمان به قبول کړو. یو بل آیت مبارک کښې دی چې خلق ویروه او خبردار ئې کړه چې په کومه ورځ به په هغوئ زمونږ عذاب رازی.

قوله تعالی:: رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ

Scanned with Ca

د عذاب راتلو په وخت کښې دکافرانو فریادونه: په هغه ورځ به ګناهګار وائی چې ائې زمونږ پروردګاره مونږ لره مهلت راکړه مونږ به ستا په آواز لبیک اووایو اوستا رسولانو پسې به روان شو. دوئ ځائې کښې داوئیلي کیږی چې دوئ لره نصیحت قبلول چرته دي ؟دوئ ته خو ځما رسولان راغلی وو اوهغوئ ورته ځما احکام واضح کړی وو. اودهغې منل خو لا څه کوې چې دې دهغې پرواه هم نه کوله. بلکه دوئ هغه دروغ ګنړل .دهغې تعلیم ته ئې غلط وئیل او صفا ئې اوئیل چې داځو تاته خودلې شوې دې ولې ته لیونې شوې وې څه ؟ لکه یو بل آیت مبارک کښې دی چې په هغه ورځ به انسان نصیحت حاصلوی خو په هغه ورځ به نصیحت چرته وی ؟بل ځائې کښې ارشاد دې چې ﴿وَقَالُوٓا اٰمَنَّا بِهٖ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ﴾ یعنې په هغه ورځ چې عذاب اووینی نو بیا به ایمان راوړل بې فائدې وی.

د ﴿اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ﴾ مطلب: بیا ارشاد کولې شی که مونږ عذاب لرې کړو اوتاسو دپاره دنیا ته اولیږلې شی نوتاسو به بیاهم هغه شان عملونه کوئی چې کوم مو ددې نه وړاندې کول لکه چې فرمائی چې ﴿وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ﴾ یعنی که مونږ په دوئ رحم اوکړو اودا بدی ترې لرې کړو نو بیا به دوئ پخپله سرکشئ کښې مشغول شی او لکه چې فرمائی ﴿وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ﴾ یعنی که دوئ واپس کړې شی نوبیا به هم هغه نافرمانئ کوی.اوتاسوبه دروغژن ګنړلی . دویمه معنی داده که د عذابونو په وجه اود عذاب راتلونه پس هم مونږ دوئ ته لږ ایسار شو نو بیا به هم دوئ دخپل جهالت نه او ضلالت نه منع نه شی.ددې نه دانه معلومیږی چې عذاب به دوئ ته اورسی او ګنې دوئ نه به هغه لرې کړې شی.لکه چې د حضرت یونس علیه السلام قوم ته الله ﷻ فرمائی چې دیونس علیه السلام قوم چې کله ایمان قبول کړو نو مونږ هغوئ نه عذاب لرې کړو.ګویادوئ باندې لا عذاب نه ووشروع شوې خودهغې اسباب موجود وو.اودوئ ته د الله ﷻ عذاب رارسیدلې وو.اوددې نه دا هم معلومیږی چې هغوئ د خپل کفر نه مخ اړولې وو.اوبیا هغې طرفته لاړل . ځکه چې حضرت شعیب علیه السلام اوپه هغه ایمان راوړلووالا خلقو ته چې کله خپل قوم اووئیل چې یا خو تاسو زمونږ ښار پریږدئی یا زمونږ مذهب قبول کړئی .نودې جواب کښې دالله ﷻ رسول اوفرمائیل اګر چې مونږ دې ته بد ګورو چې کله الله ﷻ مونږ ته نجات راکړې دې او بیا هم که مونږ ستاسودین ته درغلونو نوزمونږ نه زیات دروغژن اوپه الله ﷻ بهتان ترلو والا به بل څوک نه وی ؟ ظاهره ده چې حضرت شعیب علیه السلام ددې نه مخکښې په کفر کښې قدم نه وو ایخودې .اوحضرت قتاده رحمة الله علیه فرمائی چې تاسو واپس کیدونکی یئ ، ددې مطلب دادې چې دالله ﷻ عذاب طرفته واپس کیدل دی . دسختو نیولو نه مراد دبدر جنګ دې . حضرت ابن مسعود رضی الله عنه او دوئ سره هغه ډله چې دخان تیر شوې ګنړی نوهغوئ بطشه معنی هم داکوی. او یوې ډلې حضرت ابن عباس رضی الله عنه او حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه دا نقل کړی دی ،نو دا مطلب هم کیدیشی . په ظاهره خودا معلومیږی چې ددې نه مراد دقیامت په ورځ نیول دی .اګر چې د بدر په ورځ نیول دکافرانو دپاره سخته ده ، ابن جریر کښې دی چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چې هرڅوکه حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دادبدر ورځ ګنړی خو ځما په نزد ددې نه مراد دقیامت ورځ ده اوددې سندوه صحیح دی . حضرت حسن بصری رحمة الله علیه او حضرت عکرمه رحمة الله علیه نه هم په دواړو آیتونو کښې زیات صحیح روایت هم دادې ، والله اعلم.

وَلَقَدْ فَتَنَّا
او په آزمیښت کښې اچولی ووه مونږه
.....اومونږ ددې نه مخکښې د

Scanned with Ca

قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾ اَنْ اَدُّوْٓا

مخکښې ددې نه | قوم دفرعون | او راغې هغوئ ته | يو رسول شريف | چې حواله کړئ |

فرعون په قوم امتحان کړې وو | او هغوئ ته يو عزتمند پيغمبر راغلې وو | چې دالله ﷻ

اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۹﴾ لَّا وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا

ماته | بندګان دالله | بيشکه زهٔ | ستاسو دپاره | رسول امانتدار يم | او دا چې سرکشي مهٔ کوئ |

بندګان ماته حواله کړه | زه تاسو ته رالېږلې شوې امانت دار پيغمبر يم | اودا چې تاسو د

عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۰﴾ وَاِنِّيْ

په مقابله دالله کښې | بيشکه زهٔ | راوړم تاسو ته | دليل ښکاره | او بيشکه ما

الله ﷻ په مقابله کښې سرکشي مه کوئ | زه تاسوته يو ښکاره دليل پيش کوم | او بيشکه زه

عُذْتُ بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿۲۱﴾ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا

پناه اغستلې ده | درب زما او درب ستاسو سره | چې تاسو سنګسار کړئ ما | اوکه تاسو خبره نهٔ منئ

ستاسو او خپل رب سره د دې خبرې نه پناه غواړم چې تاسوما په کانړو اولئ | اوکه چرې تاسو په ما ايمان نه راوړئ

لِيْ فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿۲۲﴾ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ

زما | نو خان ساتئ زما نه | پس آواز اوکړو هغه | رب خپل ته | چې بيشکه دا خلق | يو قوم دې

نوزما نه لرې شئ | ..... بيا موسی ﷺ خپل رب ته دعا اوکړه | چې دا خو ډير لوئې

مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۳﴾ فَاَسْرِ بِعِبَادِيْ لَيْلًا اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۲۴﴾

مجرم پس روان کړه | بندګان زما | دشپې | بيشکه په تاسو پسې به خلق درځي |

مجرمان دي | نو اې موسی | ته زمابندګان دشپې شپې (دمصر) نه اوباسه | ډالاندې کولې به شئ

وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ؕ اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۴﴾ كَمْ تَرَكُوْا

او پريږده درياب | په حال خپل | بيشکه دوئ | لښکر دې | ډوبيدونکې | څومره ډير پريښودل هغوئ

او درياب غلې په قلاره پريږده | ددوئ ټول لښکر به ډوبيږي | نو دغه خلقو څومره

مِنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۲۶﴾ وَّنَعْمَةٍ

د باغونو | او چينو نه | او دفصلونو نه | او دخايونو شاندارونه | او نعمتونه |

باغونه | ..... او چينې | او فصلونه او ښائسته ښائسته محلونه | او نور ډير نعمتونه ئې پريخودل

كَانُوْا فِيْهَا فٰكِهِيْنَ ﴿۲۷﴾ كَذٰلِكَ ۫ وَاَوْرَثْنٰهَا

چې وو هغوئ | په هغې کښې | مزې کونکي | داسې شو انجام دهغوئ | اوپه ميراث کښې ورکړل مونږه دغه څيزونه

کوم کښې چې دوئ خوشحالي کونکي وو | هم دغسې اوشوه | او مونږ يو بل قوم دهغې ټولو څيزونو

قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿۲۸﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا

قوم بل ته | پس اونه ژړل | په هغوئ باندې | آسمان | او زمکې | او نه وو هغوئ

مالک کړو | ..... نو نه خو پرې آسمان او زمکې ژړا اوکړه | اونه ورته مهلت

مُنْظَرِيْنَ ﴿۲۱﴾	وَلَقَدْ نَجَّيْنَا	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	مِنَ الْعَذَابِ
مهلت ورکړې شوی	او بیشکه خلاصې ورکړو مونږه	بنی اسراءیلو ته	دعذاب
ورکړې شو	او مونږ بنی اسرائیل دسپکونکی عذاب نه خلاص کړل		
الْمُهِيْنِ ﴿۲۲﴾	مِنْ فِرْعَوْنَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ	عَالِيًا	مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۲۳﴾
سپکونکی نه	(یعنی) دفرعون نه	بیشکه هغه وو	اوچت سرکشه
	یعنی دفرعون نه	او هغه ډیر سرکشه وو	
وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ	عَلٰى عِلْمٍ	عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۲﴾	وَاٰتَيْنٰهُمْ
او بیشکه غوره کړی ووٗ مونږه هغوئ لره	په علم سره	په خلقو دزمانې باندې	او ورکړې مونږ هغوئ ته
او مونږ په خپل علم سره بنی اسرائیلو ته په ټول مخلوق باندې فضیلت ورکړو			او مونږ هغوئ
مِّنَ الْاٰيٰتِ	مَا فِيْهِ	بَلٰٓؤٌا مُّبِيْنٌ ﴿۳۳﴾	
دنښو نه هغه	چې په هغې کښې	آزمیښت ښکاره وو	
ته داسې نښې ورکړې	چې په کښې ښکاره امتحان وو		

قوله تعالیٰ:: وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ

دقبطیانو انجام: ارشاد کیږی چې دې مشرکانو نه مخکښې دمصر قبطیان هم مونږ آزمائیلی وو او دخپل بزرګ رسول موسی علیه السلام مونږ رالیږلې وو، هغوئ ځما پیغام اورسولو چې بنی اسرائیلو ماسره کړئی او دوئ ته تکلیف مه ورکوئی. ځه دخپل نبوت ګواهی اومعجزې هم لرم اودهدایت منونکی به سلامتیا کښې وی، ماته الله ﷻ دوحی امانت راکړې دې اوتاسو طرفته ئې لیږلې یم اوځه تاسوته دهغه پیغام درکوم تاسو ته پکار دی چې د خپل رب دخبرونه انکار اونه کړئی. او هسې نه چې سرکشی اختیار کړئی بلکه تاسو ته پکار دی چې دهغه دلایل اواحکام ښه په زړه سره قبول کړئی دهغه عبادتونه او واضح آیتونه کیخودل زه ستاسو دبدګوئی او اتهام نه دالله ﷻ سره پناه غواړم. حضرت ابن عباس رضی الله عنه او ابوصالح خو داوائی (۱)، او قتاده رحمة الله وائی چې دې نه مراد په دوئ کافرې ورول دی یعنی ددوئ ژبې ډیرخرابې وې. اودبدزبانئ تکلیف سره دلاسونو دتکلیف نه هم ځه دخپل رب چې ستاسو هم رب دې هغه سره پناه غواړم (۲) که تاسو ځما نه منئ او په ما باور نه کوئی اوپه الله ﷻ ایمان نه راوړئی نو کم ازکم ماته خو تکلیف مه راکوئی، او په دې انتظار کښې اوسئ چې کله الله ﷻ ستاسو او ځما ترمینځه فیصله اوکړی. بیا چې کله حضرت کلیم الله علیه السلام ددوئ مینځ کښې ډیره موده تیره کړه او ورته معلوم شو اوښه تبلیغ ئې اوکړواوهر قسم خیرخواهئ ئې ورسره او کړې نو ددوئ د هدایت دپاره ئې هرقسمه هلی ځلې اوکړې او ورته معلوم شو چې هغوئ په خپل کفر کښې ورځ په ورځ ترقی کوی نو الله ﷻ نه ئې دوئ دپاره بددعا اوکړه، څنګه چې مخکښې فرمائی چې بل آیت مبارک کښې فرمائی چې حضرت موسی علیه السلام اوفرمائیل چې الهی زمونږ ربه! تا فرعون او ددهٔ امیرانو ته ددنیا مال ومتاع ورکړې ده، یاالله ﷻ دوئ په دې وجه نور خلق هم ستا دلارې نه بې لارې کوی، ته ددوئ مالونه برباد کړې اوددوئ

---

(۱) الطبری: ۲۶/۲۲.
(۲) الطبری: ۲۷/۲۲.

Scanned with Ca

زړونه سخت کړی چې دوئ دردناک عذابونه اووینی او ترهغې ایمان راونړی ، دالله ﷻ دطرفنه جواب ورکړئی شو چې ائې موسی ﷺ اوائې هارون ﷺ ! ماستاسو دعا قبوله کړه اوس تاسو ښه په استقامت سره اوسئ. حضرت موسی ﷺ ته مونږ اووئیل چې ځما بندګان یعنی بنی اسرائیل دشپې دفرعون او د فرعونیانو لښکر کښې ددې ځائې نه اوباسه داکاروان به تاسو پسې روان وی اوتاسو هم بې ویرې روان اوسئ .او د فرعون لښکر ددوئ نیولو دپاره روان شو ، هرکله چې مخکښې ورته دریاب راغلو نو بنی اسرائیل خو حضرت موسی ﷺ په هغې پسې ورکوز کړل . ددریاب اوبه اوچې شوې او دې سره ملګرو په سلامتئ سره پورې وتل نو وې غوښتل چې اوس دریاب لړه په همسا اووهئ او ورته اووائې چې روان شئ چې فرعون اودهغه لښکر راپورې نه شی . نوهغه وخت هلته حکم راغلو چې دې په دې حال کښې داسې پریږدئ او ددې وجه ئې هم ورته اوخودله چې دوئ ټول به دلته کښې مری . بیا تاسو ټول مطمئن اوبې ویرې شوئ . حکم شوې وو چې دریاب داسې پریږدئی او ځئ ترې نه . د «رهوا» معنی ته اوچه لاره،چې په اصلی حالت کښې وی . مقصد دادې چې پورې شئ نو دریاب ته د روانیدو حکم مه ورکوئی تر دې چې ټول دښمانان ورته داخل شی.اوس دۀ ته د روانیدو حکم سره به ټول الله ﷻ تباه کړی،الله ﷻ فرمائی چې ګورئی څنګه تباه شو،باغونه،فصلونه ، نهرونه ، محلونه ، ټول ترې پاتې شو. حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ فرمائی چې دمصر دریائې نیل دمشرق اومغرب ددریابونو سردار دې او ټول نهرونه ددۀ ماتحت دې کله چې ددۀ روانی الله ﷻ ته منظور شی نو ټول نهرونه دۀ ته د اوبو رسولو حکم کوی. ترڅو چې رب ته منظور وی نو ده ته اوبه رازی .بیا الله ﷻ نورنهرونه منع کوی او حکم ورته کوی چې خپل خپل ځائې ته واپس شئ.اود فرعونیانو دا باغونه د دریائې نیل په غاړه مسلسل دی .د رسوان نه واخله تر رشید پورې دا سلسله تلې ده او ددې نهه جزیرې دی ، خلیج اسکندریه ، دمیاط خلیج سر دوس،خلیج مصنف،خلیج نبوم ، خلیج منتهی،اودا ټول ددې په اوبو اوبه کیږی،او ډیر په امن کښې پتی دی چې د مصر د دریاب پورې رسیدلی دی . دا ټول ددې په اوبو اوبه خور کیږی . اوډیر په امن او راحت سره ژوند تیروی . خو غرور ئې اوکړو او آخر ټول نعمتونه ترې لاړل اوتباه شو ، مال اواولاد ، سلطنت اوعزت هرڅه په یوه شپه کښې لاړل.او دبوسو په شان باد کړې شو.اود تیرو خلقو په شان بې نخښې کړې شو او داسې ډوب کړې شو چې بچ نشو ، جهنم ته اورسیولې شو او بدترین ځائې ته داخل شو. ددوئ ددا ټول څیزونه الله ﷻ بنی اسرائیل ته ورکړل . لکه چې یو بل ایت مبارک کښې دی چې مونږ دې کمزورو ته د صبر بدله کښې د فرعونیانو ټول څیزونه ورکړل . اوبې ایمانه خلق مونږ برباد کړل . دلته هم دوئم قوم چې کوم وارث جوړ کړې شو ، دوئ نه مراد بنی اسرائیل دی ، بیا ارشاد دې چې په دوئ نه زمکې اوژړل او نه آسمان ځکه چې ددوئ عملونه نیک نه وو چې آسمان ته ختلې وې. او اوس دهغې دنه ختلو په هغې افسوس کوی .نه په زمکه کښې داسې ځایونه وو چې هلته دوئ ناست وې او دالله ﷻ عبادت ئې کولې . او دوئ چې نن هغه ځائې نه مومی نو په دې ماتم کوی . اودوئ ته مهلت ورنکړې شو. مسند ابویعلی موصلی کښې دی چې دهر بنده دپاره په آسمان کښې دوه دروازې دی، دیو نه ددۀ روزی راکوزیږی او دویمه باندې ددۀ عملونه بره خیژی . هرکله چې دې مړ شی او هغوئ عملونه او رزق نه وینی نو ژاړی .بیا حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارک تلاوت کړو(۱) ابن ابی حاتم کښې دی چې درسول الله ﷺ فرمان دې چې اسلام دغریبئ نه شروع شوې دې او په غریبئ به ختم شی.یادساتئ چې دمومن انجام دمسافر په شان دې . مومن چې کله سفر کوی اوهلته په هغه څوک ژړلو والا نه وی نو دده دپاره زمکه او آسمان ژاړی.بیا حضرت نبی کریم ﷺ د آیت مبارک تلاوت کړو

---

(۱) ترمذی کتاب تفسیر القران باب ومن سورة حم الدخان: ۳۲۵۵، مسند ابی یعلی : ٤۱۳۳ .

Scanned with Ca

او وې فرمائيل چې په کافرانو باندې دا دواړه نه ژاړي .[1] حضرت علي ﷺ نه چا تپوس اوکړو چې تپوس اوکړوچې زمکه اوآسمان په چا ژاړي ؟وې فرمائيل چې نن تا دهغې خبر تپوس اوکړو چې ددې نه مخکښې هيچا نه دې کړې .واوره هر بنده دپاره په دې زمکه باندې يو ځائې وی اودې په هغې مونځ کوی اوآسمان کښې يو ځائې وی چې په هغې ددۀ عملونه پورته خيژی .او د فرعونيانو نيک عملونه نه وو. په دې په هغوئ نه زمکه ژاړی اونه آسمان .اونه هغوئ ته مهلت ورکړې شو.چې څه نيکی ئې کړې وی[2] بلکه حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دې چې دوئ نه چاتپوس اوکړو نو هغوئ هم داشان جواب ورکړوحضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چې تر څلويښتو ورځو پوری زمکه په مومن ژاړی[3] هرکله چې حضرت مجاهد رحمه الله دابيان اوکړو نو په دې باندې چا دحيرانتيا سوال اوکړو .نودوئ اوفرمائيل چې سبحان الله په دې کښې د حيرانتيا څه خبره ده ، کله چې مومن په زمکه باندې د خپلې رکوع او سجدې دپاره ځائې مقرر کړې وی او په هغې ئې آبادساتی .اودکوم بنده تکبيرونه اوتسبيح چې آسمان اوری نو ولې دا دواړه آسمان او زمکه به ددې عبادت کونکی دوباره نه ژاړی ؟حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چې دفرعونيانو په شان خوار او ذليل باندې به ولې ژاړی ؟ حضرت ابراهيم فرمائی چې کله نه دا دنيا جوړه شوې ده ،دهغې وخت نه آسمان په دوؤ سرو ژړلی دی، ددوئ شاګردانو دوئ نه سوال اوکړو چې ولې آسمان اوزمکه په هر ايماندار نه ژاړی څه ؟ نو وې فرمائيل چې په دومره برخه چې په څومره ددۀ عملونه پورته خيژی . واورئی د آسمان ژړل د آسمان سور کيدل او د ګلاب پشان کيدل دی .نوداحال صرف د دوه سرو په مرګ باندې شوې دې . دحضرت يحيی ﷺ دقتل په موقع آسمان سور شو اووينه تری بهيدله . اودويم دحضرت حسين ﷺ په قتل هم د آسمان رنګ سور شوې وو(ابن ابی حاتم) ديزيد بن ابوزاد قول دې چې دحسين ﷺ دقتل په وجه د آسمان غاړې سرې شوې اودا سرۀ کيدل ددې ژړا وه حضرت عطاء رحمه الله فرمائی چې ددۀ د غاړو سرۀ کيدل ددۀ ژړا ده. دا هم وئيلې شوی دی چې د حضرت حسين ﷺ د قتل په ورځ به چې کوم کانړئی التپه کولې شونودهغې لاندې به سرۀ وينه راوتله . په هغه ورځ تندر هم نيولې وو او ددې غاړې هم سرې شوې وې او کانړی هم راپريوتلی وو. خودا ټولې خبرې بې بنياده او دشيعه ګانو جوړې کړې شوې افسانې دی . په دې کښې هيڅ شک نشته چې دحضور نبی کريم ﷺ د نمسې د قتل واقعه ډيره غمناکه او دردناکه ده او په دې کښې ډير افسوس اوحسرت دې .خو چې په دې شيعه ګانو کومه حاشيه خيژولې ده اوکومې خبرې ئې کړی دی نوهغه هسې ګپ شپ دې . داخيال اوکړئی چې ددې نه لوئې لوئې واقعات وارد شوی دی او په هغې په آسمان کښې انقلاب نه دې راغلې . ددوئ والد محترم هم قتل شوې وو او په دې ډولو اجماع ده چې هغوئ دحسين ﷺ نه بهتر وو نه خو دکافرو لاندې وينه وه او نه نور څه وو. حضرت عثمان بن عفان ﷺ هم ګيرکړې شوې وو اوډير زيات په بې رحمئ سره اوپه ظلم سره شهيد کړې شوې وو دا هغه لوئې مصيبت ووچې ددې نه مخکښې مسلمانانو ته ددې نه زيات لوئې مصيبت نه وو رسيدلې.خو په دې ټولو واقعاتو کښې يوه خبره هم اونه شوه کومې چې شيعه ګانو دحضرت حسين ﷺ دمرګ په حقله مشهورې کړې دی . دا پريږدئی د ټولو انسانانو دينی اودنياوی سردار سيد البشر حضرت محمد ﷺ چې په کومه ورځ وفات شوې وو نو په هغه ورځ هم څه نه وو شوی . او دا واورئی چې کله د حضرت نبی کريم ﷺ ځوئې حضرت ابراهيم وفات شو نو په هغه ورځ اتفاقی طور نمر تندر نيولې وو. او چا اووئيل

---

[1]) داروايت مرسل دې .
[2]) الطبری : ۳٤/۲۲.
[3]) حاکم : ٤٤۹/۲.

Scanned with Ca

چې دابراهیم په مرګ باندې نمر تندر نیولې دې. نو حضرت ددې اوریدو نه پس صلاة کسوف اداکړو او زر زر خطبې ته اودریدو او وې فرمائیل چې نمر اوسپورمئ دواړه دالله ﷻ نخښې دی ، دچا په مرګ باندې او ژوند باندې ددوئ تندری نه نیسی[1].

قوله تعالی:: وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ

په بنی اسرائیلو د الله ﷻ احسانات:: ددې نه پس آیت کښې الله ﷻ په بنی اسرائیلو باندې خپل احسان وریادوی چې مونږ دوئ ته دفرعون پشان متکبر اوظالم نه نجات ورکړو. هغه بنی اسرائیل خوار اوذلیله کړی وو اوخدمتونه یې ئې ترې اخیستل. د بې قوفئ په وجه ئې دهیڅ حد بندئی خیال نه ساتلو. دالله ﷻ زمکه کښې ئې فساد کولو اودې بدکارونو کښې ددۀ قوم هم سروو. بیا په بنی اسرائیلو دیوبلې مهربانئی ذکر کوی چې مونږ تاسو ته د هغه زمانې پخلقو باندې فضیلت درکړو. هرې زمانې ته عالم وئیلې شی. دامراد نه دې چې په ټولو مخکښینو اوو روستنو مونږ بزرګی ورکړې وه. دا آیت مبارک هم دهغه آیت مبارک په شان دې چې هغې کښې فرمان دې چې ﴿قَالَ يٰمُوسٰٓى إِنِّى اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ﴾ ائې موسی علیه السلام! مونږ تاته په خلقو بزرګی درکړیده. یعنی ددې زمانې په خلقو یا لکه دحضرت مریم علیها السلام دپاره فرمائی چې ﴿وَاصْطَفٰكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ﴾ ددې مطلب دادې چې دهغې زمانې په ټولو ښځو مونږ تاته فضیلت درکړې دې، ځکه چې ام المومنین حضرت خدیجه رضی الله عنها ددوئ نه یقینی طور افضله ده. یا ئې برابر ده. داشان حضرت آسیه بنت مزاحم چې د فرعون ښځه وه اودام المومنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فضیلت په نورو ښځوداسې دې لکه چې د ماتې روټئ په نوره روټئ کوم فضیلت دی. بیا په بنی اسرائیلو دبل احسان ذکر کوی چې مونږدوئ ته هغه حجتونه او معجزې او کرامتونه ورکړی وو چې په هغې کښې د هدایت دلټونکو دپاره صفا صفا امتحان وو.

إِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ۝	
بیشکه دا خلق	خامخا وانی
.....بیشکه دا(کافرا) وائی	
إِنْ هِىَ إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولٰى وَمَا نَحْنُ بِمُنْشَرِينَ ۝	
نه دي عاقبت | مګر | مرګ زمونږ | رومبنې دي | اونۀ یو مونږ | چې دوباره به راپورته کړې شو	
چې بس دغه ددنیا مرګ (زمونږ آخری انجام) دي | ..... اومونږ بیان راوژندی کیدونکی نه یو |	
فَأْتُوا بِـَٔابَآئِنَآ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ۝ أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ	
پس راولئ | پلاران زمونږه | که یئ تاسو رښتینی | آیا دوئ بهتر دی | او که قوم دتبع	
نوکه تاسو پیغمبران رښتینی یئ |نوزمونږ پلار نیکه راواپس کړئ |آیا داخلق بهتر دی یا دتبع قوم	
وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنٰهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا	
او هغه خلق | چې مخکښې دهغوئ نه وؤ | هلاک کړل مونږه هغوئ | بیشکه چې هغوئ	
او هغه خلق | چې دوئ نه وړاندې تیر شوي وو | کوم چې مونږ هلاک کړل |بیشکه هغوئ لوئې مجرمان	

[1] صحیح بخاری کتاب الکسوف باب الصلاة فی کسوف الشمس:۱۰۴۳، صحیح مسلم: ۹۱۵.

مُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾
وو مجرمان
روا

قوله تعالى:: إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَيَقُولُونَ ﴿۵۶﴾

د تبع د بادشاه قصه :دلته مشرکانو د قیامت نه انکار اودهغې دلیل بیان فرمائیلو نه پس الله ﷻ تردید کوی چې داچا داخیال وو چې قیامت راتلونکئ نه دې اودمرګ نه پس ژوند نشته دې،حشراوقیامت دا ټول دروغ دی ، دوئ دادلیل پیش کوی چې زمونږ پلاران اونیکونه مړۀ شوی دی .هغوئ ولې بیا ژوندی نشو. دمرګ نه پس ژوند به دقیامت په ورځ وی دوباره به دنیا کښې نه وی . په هغه ورځ به داظالمان دجهنم خشاک جوړیږی .دغه وخت به دا امت په تیرو شوؤ امتونو ګواهی ورکوی اوپه دوئ به حضرت محمد ﷺ ګواهی ورکوی . بیا الله ﷻ دوئ لره ویروی چې هسې نه پته تاسوهغه عذابونه رانشی چې کوم په مخکښې قومونو باندې راغلی وو.اوتاسو هم د هغوئ په شان تباه نه شئ .ددوئ واقعات په سورۀ سبا کښې تیر شوی دی . هغه خلقو هم د عربو قحطان سره تعلق لرلو لکه چې دا د عدنان عرب وو. حمیر چې دسباوو هغوئ به خپل بادشاه ته تبع وئیل . لکه چې دفارس هر بادشاه ته کسری وئیل . اودروم هر بادشاه ته به ئې قیصر وئیلو. اود مصر هر بادشاه ته به ئې فرعون وئیلو او د حبشې هربادشاه ته به ئې نجاشی وئیلو. په دوئ کښې یو تبع دیمن نه راووتلو او زمکه کښې اوګرزیدواوسمرقند ته اورسیدو. د هر ځائې بادشاهانوته ئې شکستونه ورکړل . او ډیر لوئې ملک ئې قبضه کړو.او ده سره یو زبردست لښکر ووواو ورسره یو لوئې رعایا وو ،دۀ حیره نومې ښار جوړ کړې وو.دې خپله زمانې کښې مدینې منورې ته هم راغلې وو او ددې ځائې خلقوسره به ئې د ورځې جنګ کولو او دشپې به ئې ورته میلمستیا کوله .آخر ددۀ هم غیرت لحاظ پیداشو اوجنګ ئې بند کړو. دۀ سره دوه یهود عالمان وو اوهغوئ دحضرت موسی ﷺ ددین پیروکار وو. هغوئ به هروخت دوئ په نیکئ اوبدئ پوهول . دوئ ورته اووئیل چې ته مدینه نشی تاراج کولې .ځکه چې دآخری زمانې د پیغمبر ﷺ دهجرت ځائې هم دادې ، نو دې ددې ځائې نه واپس شو او دا دواړه عالمان ځان سره واخستل .هرکله چې دې مکې مکرمې ته اورسیدو نو ده دبیت الله ﷻ شریف راغورزول غوښتل خو دې دواړو عالمانو منع کړو.او ددې پاک کور حرمت اوعزت ئې ورته بیان کړو.او ورته ئې اووئیل چې ددې جوړونکئ خلیل الله ﷺ دې اوددې آخری نبی حضرت نبی کریم ﷺ په لاسونو به ددې عظمت نور هم ښکاره شی نو دې خپلې ارادې نه منع شو .بلکه دبیت الله شریف ئې ډیر زیات تعظیم اوعزت اوکړو. طواف ئې ترې اوکړواوغلاف ئې ورته واچولواو ددې ځائې نه یمن ته واپس شو ،دې وخته پورې مسیح ﷺ نه وو مبعوث شوې او دغې زمانې دپاره همدغه ریښتونې دین وو.

د تبع درالحکومت کوم ځائې وو؟:دغه شان واقعات په ډیره تفصیل سره دسیرت ابن اسحاق کښې موجود دی اوحافظ ابن عساکر هم پخپل کتاب کښې په ډیرتفصیل سیره لیکلی دی .په هغې کښې دی چې ددۀ دارلحکومت دمشق وو ،ددۀ دلښکرو صفونه به دمشق نه یمن ته رسیدلې وو یوحدیث پاک کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې ماته علم نشته دې چې حد لګولو سره دګناه کفاره کیږی یانه ؟ اونه ماته دا معلوم دی چې تبع ملعون وو که نه ؟ اونه ماته ددې علم شته چې ذوالقرنین نبی ووکه باشاه ؟(۱) بل روایت کښې دا هم دی چې حضرت عزیر ﷺ پیغمبر وو که نه ؟(۱)،ابن ابی حاتم

---

(۱) حاکم :۲/۴۵۰، بیهقی : ۸/۳۲۹، وسنده صحیح .

،دارقطنی کښې ددې راوی صرف د عبدالرازق دې .بل سند سره روایت شوې دې چې د عزیر ﷺ دنبی کیدو زمانه ماته معلوم نه ده اونه ماته دا علم شته چې په تبع لعنت اوکړم اوکه نه؟ ددې ذکر کولو والا حافظ ابن عساکر هغه روایتونه درج کړی دی چې په هغې کښې تبع ته دکنځلو کولو اوپه هغوئ دلعنت کولو ممانعت شوې دې.اومونږ به پیش کړو.انشاء الله .خوداسې معلومیږی چې دوئ اول کافران ووا وبیا مسلمانان شوی وو .یعنی دحضرت موسی ﷺ په دین کښې داخل شوی وو .اودهغه په لاس ئې ایمان قبول کړې وو .داد حضرت مسیح ﷺ د مبعوث کیدو نه مخکښې واقعه ده .دجرهم په زمانه کښې ئې دبیت الله شریف طواف هم کړې وو او غلاف ئې ورته هم جوړ کړې وو .اوددې ئې ډیر زیات تعظیم او احترام اوکړو .او زر اوښان ئې دالله ﷻ په نوم قربانی کړل اودا نوره هم ډیره اوږده قصه ده.اودادحضرت نبی کریم ﷺ نه حضرت ابی بن کعب ؓ حضرت عبدالله بن سلام ؓ،حضرت عبدالله بن عباس ؓ، روایت کړې ده اوداصلی قصې دارومدار په حضرت کعب بن احبار ؓ او حضرت عبدالله بن سلام باندې دې .وهب بن منبه هم دا واقعه نقل کړې ده. حافظ ابن عساکر دتبع قصې سره بله دویمه قصه هم ذکر کړې ده .اوهغه ددوئ نه ډیره روستو ده .دهغه قوم خودهغه په لاس اسلام قبول کړې وو اوبیا دهغه دمرګ نه پس هغوئ بیا واپس کافران شوی وو .اودوباره ئې داوراو بتانو عبادت شروع کړو .لکه څنګه چې په سورة سبا کښې تیر شوی دی دهغې تفسیر هم په هغه ځائې کښې تیر شوې دې . فالحمدلله .

دتبع نومونه او ددۀ بادشاهی:حضرت سعید بن جبیر فرمائی چې دې تبع کعبې مبارکې ته غلاف جوړ کړې وو او ورته ئې اچولې وو .دوئ به خلق منع کول چې دې تبع ته بد وائې .دده نوم اسعد ابوبکر ابوکرب ملیکرب یمانی دې . ددۀ سلطنت درې سوه شپږویشت کاله وو. ددې نه زیات وخت دې بادشاهانو کښې چا بادشاهی نه ده کړې .دې دحضرت نبی کریم ﷺ نه اووۀ سوه کاله آګاهو وفات شوې وو. مورخینو داهم بیان کړی دی چې دې دواړو موسوی عالمانو چې دمدینې وو،دوئ چې تبع باشاه ته یقین ورکړو چې داښار د آخری نبی ﷺ دهجرت ځائې دې نودۀ یو قصیده اووئیله او دمدینې خلقو دا دامانت په طور ایخودې وه چې دوئ سره وه او دمیراث په شکل به یوبل ته رسیدله.اوددې روایت سند سره برابر راروان دې تر دې چې حضرت نبی کریم ﷺ دهجرت په وخت ددې حافظ ابوایوب خالد بن زید ؓ وو او اتفاق سره بلکه دالله ﷻ په حکم دحضرت نبی کریم ﷺ قیام هم دلته شوې وو. ددې قصیدې څینې شعرونه دادی:

شهدت علی احمد انه ..... رسول من الله بارء النسم

فلومد عمری الی عمره ..... لکنت وزیراله وابن عم

جاهدت بالسیف اعداءه ..... وفرجت عن صدره کل غم

(ترجمه): ځه زړه ته ګواهی ورکوم چې حضرت احمد مجتبی ﷺ دالله ﷻ ریښتونئ رسول دې چې د ټولو ساه لرونکو پیدا کوونکئ دې که ځه تر هغه زمانې پورې ژوندې پاتې شوم نوپه الله ﷻ مې قسم چې دهغه ملګرې به یم او دهغوئ مددګار به یم اوهغوئ سره دهغوئ ددښمنانو خلاف په توره جهاد کوم او غم به هغوئ ته نزدې نه پریږدم.

صنعاء کښې د دوو ښځو قبر: ابن ابی دنیا کښې دی چې داسلام په دور کښې په صنعاء کښې اتفاق سره یو قبراوکنستلې شونوهغوئ اولیدل چې دوه ښځې یو ځائې کښې ښخې دی اودهغوئ بدنونه بالکل صحیح او مکمل دی.اوسرته ئې د سپینو زرو یو تخته لګیدلې وه اوپه هغې دسرو زرو په

---

[1]) ابوداود کتاب السنة باب فی التخیر بین الانبیاء علیهم السلام: ٤٦٧٤، وسنده صحیح .

Scanned with Ca

لفظونو کښې لیکل شوی وو او هغه لیکل داسې وو چې دا قبر دحیی اوتمیس دې اویو روایت کښې ددوئ نوم حیی او تماضر دې،دا دواړه دتبع خویندې وې ،دې دواړو دمرګ په وخت ددې واقعې متعلق دسبا ځینې شعرونه هم نقل کړی دی . حضرت کعب فرمائی چې دتبع تعریف دقران پاک نه معلومیږی چې الله ﷻ ددوئ د قوم غنډنه کړې ده ددهٔ نه. حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې چې فرمائی چې تاسو تبع ته بد مه وائې ځکه چې هغه یونیک سړې وو(۱)ابن ابی حاتم کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې تبع ته بدمه وائې هغه مسلمان شوې وو. طبرانی او مسند کښې هم دا روایت شته دې(۲)عبدالرزاق کښې د حضرت نبی کریم ﷺ فرمان دې چې ماته معلوم نه دی چې تبع نبی وو که نه ؟یو بل روایت کښې دی چې ددې نه مخکښې تیر شوی دی چې ماته معلوم نه دی چې تبع ملعون وو که نه .والله اعلم.داروایت دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه هم روایت شوې دې(۳)حضرت عطاء بن ابی رباح رحمه الله فرمائی چې تبع ته کنځل مه کوئی .حضرت نبی کریم ﷺ دوئ ته دبدو ردو وئیلو نه منع کړې ده . والله اعلم.

وَمَا خَلَقْنَا	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	وَمَا	
او نهٔ دی پیدا کړی مونږه	آسمانونه	او زمکه	او هغه چې	
اومونږ آسمانونه او زمکه او څهٔ چې د دې دواړو په مینځ کښې دی				
بَيْنَهُمَا	لٰعِبِيْنَ ۝	مَا خَلَقْنٰهُمَآ	اِلَّا بِالْحَقِّ	
په مینځ ددې دواړو کښې دی	لوبې کونکی	نهٔ دی پیدا کړی مونږه دا دواړه	مګر په حقه سره	
بې فائدې نه دی پیدا کړې	او مونږ دا دواړه په ډیر حکمت سره پیدا کړی دی			
وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ ۝	اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ	مِيْقَاتُهُمْ
ولیکن اکثر ددوئ نه	نهٔ پوهیږی	بیشکه ورځ دفیصلې	مقرر وخت ددوئ دې	
خو په دوئ کښې زیات خلق نه پوهیږی	بیشکه چې ددې ټولو مقرره نیټه ده			
اَجْمَعِيْنَ ۝ لا	يَوْمَ	لَا يُغْنِيْ	مَوْلًى	عَنْ مَّوْلًى	شَيْـًٔا
دټولو	هغه ورځ	چې په کار به نهٔ راځی	یو دوست	دبل دوست	هیڅ قدرله
.....په دغه ورځ به هیڅ یو دوست د بل دوست هیڅ څه په کار نشی					
وَّلَا هُمْ	يُنْصَرُوْنَ ۝ لا	اِلَّا مَنْ	رَّحِمَ اللّٰهُ ؕ	اِنَّهٗ
اونهٔ به دهغوئ	امداد کیدې شی	سوا ددې نه چې په چا	رحم اوکړی الله	بیشکه هغه
اونه به ورسره مدد اوکړې شی	مګر په چا چې الله ﷻ رحم اوکړی		.....بیشکه هغه	
هُوَ الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ ۝ ع	اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ۝ لا	طَعَامُ الْاَثِيْمِ ۝	
هم هغه غالب	مهربانه دې	بیشکه ونه د زقوم	خوراک دګنهګار دې	
ډیرزبردست مهربان دې	..... بیشکه د زقوم ونه به د ګناهګارو خوراک وی			

---

۱) حاکم :۲/ ۴۵۰ ،.

۲) احمد:۵/ ۳۴۰؛ طبرانی :۱۳/ ۶۰.

۳) الطبرانی فی الاوسط: ۲

قوله تعالی:: وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

د زمکې او اسمان په پیدائش کښې د حکمت بیان: دې ځائې کښې الله ﷻ دخپل عدل وانصاف بیان کوی اوبې فائدې اوعبث کارونو نه دخپل پاکوالی اظهار کوی لکه یو بل آیت مبارک کښې ارشاد دې چې مونږ خپل مخلوق بې کاره اوباطل نه دې پیدا کړې .داشان ګمان زمونږ په حقله صرف دهغه خلقو دې چې کوم کافران دی . اودهغوئ ځائې جهنم دې او ارشاد دې چې ﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ﴾ آیا تاسو داګمان کوئی چې مونږ تاسو عبث پیدا کړی یئ او تاسو به مونږ ته نه واپس کیږئ؟ الله ﷻ حق مالک او بزرګئ والا دې . دهغه نه سوا بل معبود نشته دې ، هغه د کریم عرش مالک دې . د فیصلو د ورځو یعنی دقیامت په ورځ چې کله الله ﷻ دخپلو بندګانو فیصله کوی .نو کافرانو ته به سزا ورکوی . او مومنانو ته به جزا ورکوی .په هغې ورځ به ټول مخکښینی اوروستونی الله ﷻ ته جمع شی دابه هغه وخت وی چې دیوبل نه به جدا شی ، هغه وخت کښې به رشته دارنی او خپلولئ دوئ ته هیڅ فائده نه ورکوی کله چې الله ﷻ فرمائی چې ﴿فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ﴾ کله چې شپیلئ پوک وهلې شی نو نه به نسب باقی پاتې شی او نه به تپوس پوښتنه ،یو بل آیت مبارک کښې دی چې هریو دوست به په هغه ورځ دبل دوست پریشانئ وینی اوهیڅ به نشی کولې او نه به ځوک دچا مدد کولې شی .نه به ورته دبهر مدد رازی . خودالله ﷻ رحمت چې کوم مخلوق ته شامل دې،هغه ډیر غالب اوفراخه رحمت والا دې .

اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ۙ	طَعَامُ الْاَثِيْمِ ۙ			
ابیشکه ونه د زقوم	خوراك دګنهګار دې			
بیشکه د زقوم ونه به د ګناهګارو خوراک وی				
كَالْمُهْلِ ۚ	يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ۙ	كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ ۙ		
پشان دخیری دتیلو دویخ	ایشیږی به	په خیټو کښې	پشان دایشیدلو دګرمو اوبو	
لکه د تیلو د ویخ خیرې	په خیټو کښې به ویشیږی	لکه څنګه چې ګرمې اوبه ویشیږی		
خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ	اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ۙ	ثُمَّ صُبُّوْا	فَوْقَ رَاْسِهٖ	
اونیسئ دې	پس راکاږئ دې	منځ د دوزخ ته	بیا واړوئ	دپاسه دسر ددۀ
(حکم به اوشی) دې راوُنیسئ	او ددوزخ مینځ ته ئې راکاږئ	بیا د ده په سر باندې تکلیف ورکونکې		
مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ۙ	ذُقْ ۚ اِنَّكَ	اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ ۙ	اِنَّ هٰذَا	
دعذاب ګرمو اوبو نه	اوځکه	بیشکه ته	غالب او عزتمند ئې	بیشکه دا
ګرمې اوبه توئې کړئ	(اوبه وئیلې شی) ددې خوند اوځکه	ته خوغالب عزت مند سړې وې		
مَا كُنْتُمْ بِهٖ	تَمْتَرُوْنَ ۙ			
هغه څیز دې اچې وئ تاسو	په باره ددې کښې	چې شك به مو کولو		
داهغه عذاب دې چې تاسو بۀ د دې په راتلو کښې شک کولو				

قوله تعالی:: اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ۙ

دمنکرینودقیامت خطرناکه سزا او د شجر زقوم بیان: کوم خلق چې دقیامت نه منکر دی هغوئ ته به چې کومه سزاهلته ورکولې شی دهغې بیان کیږی .دمجرمانو خپل قول او فعل په نافرمانئ کښې اخته کړی وو.دوئ ته به نن ورځ د خوراک دپاره زقوم ورکولې شی .ځنې وائی چې دې نه مراد ابوجهل دې . اصل کښې هغه هم ددې آیت مبارک وعید کښې داخل دې خودا دې نشی وئیلې چې آیت صرف دهغه په حق کښې نازل شوې وو. حضرت ابودرداء ﷺ یوسړی ته داآیت مبارک تلاوت کړو خودهغه دژبې نه الفاظ (اثیم) نه اداکیدل .اوهغه به ددې په ځائې یتیم وئیل. نودوئ هغه ته (طعام الفاجر) اولوستلو(۱) یعنی هغه ته به ددې نه سوانور خوراک نشی ورکولې . حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی که دزقوم یو قطره د زمکې اوبو کښې پریوزی نو دزمکې د ټولو خلقو معاش به خراب شی (۲)یومرفوع حدیث پاک کښې دا هم راغلی دی چې کوم اول بیان شو(۳) دابه دخیری په شان وی .دخپل حرارت،بې خوندنی او نقصان په وجه به خپله کښې جوش وهی.الله ﷻ به دجهنم داروغه ته اووائی چې داکافراونیسئ نوهغه وخت به اویا زره فرښتې منډه کړی او دې به راځملوی او خوله کښې به ورته دا واچوی.اودجهنم مینځ ته به ئې اوغورزوی.بیا به دده په سر ویشیدلې اوبه واچولې شی.لکه څنګه چې فرمائی (یصب من فوق)یعنی ددوئ په سرونو به د جهنم ګرمې اوبه واچولې شی . چې هغې سره ددوئ څرمنې او ددوئ خپلې کښې دننه چې څه دی هغه به اوسوزی .مونږ مخکښې دا هم بیان کړی دی چې فرښتې به دوئ داوسپنو په سټکونو وهی او ددوئ مازغه به دانه وانه شی . اوبیا به پرې د پورته نه حمیم واچولې شی . داچې کوم کوم ځائې ته رسی نو څرمنې به تړې لرې کوی.تر دې چې ددوئ کولمې به پرې کړی اوپنډوته به راورسی.الله ﷻ دې مونږ ددې نه محفوظ اوساتی .بیا به ددوئ دشرمولو دپاره اونور پښیمانه کولو دپاره وئیلې شی چې واخلئ مزه اوځکئ تاسو زمونږ په نظر کښې نه عزت والاینئ او نه بزرګان یئ . مغازی امویه کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ ابوجهل معلون ته اوئیل چې ماته الله ﷻ حکم کړې دې چې تاته اووایم چې ستاسودپاره ویل دې په تا افسوس دې .بیا دوباره وایم چې ستاسو دپاره خرابی ده اوافسوس دې . دې مردار خپلې جامې په لاس رانبکلې او وې وئیل چې څه څه ته او ستا رب څما څه نشی کولې . دې ټوله علاقه کښې ځما نه څوک زیات عزت والا نشته دې نو الله ﷻ دې دبدر په ورځ قتل کړو اودې ذلیل شو. نو ده ته به اووئیلې شی چې واخله د خپلې لوئې او عزت مزه اوځکه .(۴) اودې کافرانوته به اووئیلې شی چې داهغه دی چې تاسو په دې کښې شک کولو.لکه څنګه چې نورو آیتونو مبارکو کښې دی چې دوئ ته به دیکې ورکولې شی او جهنم ته به ئې داخلولې شی .اودوئ ته به اووئیلې شی چې دا هغه دوزخ دې چې تاسو دایه دروغه ګڼرلو. داچې تاسو ئې وینئ داجادو دې څه؟ داخبره دې ځائې کښې هم فرمائی چې دادې هغه چې تاسو په کښې شک کولو.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ
بیشکه متقیان خلق
.....بیشکه پرهیزګار خلق

---

۱) الطبری : ۴۳/۲۲.
۲) الطبری : ۴۳/۲۲.
۳) ترمذی کتاب صفة جهنم باب ماجاء فی صفة شراب اهل النار : ۲۵۸۵، وهو صحیح ابن ماجه:۴۳۲۵.
۴) المغازی للاموی.

Scanned with Ca

فِيْ مَقَامٍ	اَمِيْنٍ ۝۵۱	فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝۵۲	يَّلْبَسُوْنَ	مِنْ سُنْدُسٍ
به وی په خائ	امن کښی اپه باغونو	اوچینو کښی اچی اغوندی به جامې	ادنرمو نازکو ریښمونه	
به دامن په خائې کښې اوسیږی	په باغونو اوپه چینو کښې به وی	دریښمونړئ اوغټې جامې		
وَّاِسْتَبْرَقٍ	مُّتَقٰبِلِيْنَ ۝۵۳	كَذٰلِكَ ۛ	وَزَوَّجْنٰهُمْ	
اودغټو ریښمونه	مخامخ به ناست وی یو بل ته	دا به دهغوئ شان وی	او وروادۀ به کړو مونږ هغوئ ته	
به اغوندی	یو بل ته مخامخ به ناست وی	داخبره هم دغسې ده	اومونږ به ورته سرې سپینې	
بِحُوْرٍ	عِيْنٍ ۝۵۴ ط	يَدْعُوْنَ	فِيْهَا	بِكُلِّ فَاكِهَةٍ
سرې سرې ښځې	غټ سترګې	او غواړی به هغوئ	په هغې کښی	هر قسم میوې
دغټو سترګو والا ښځې واده کړو	هرقسمه میوې به په اطمینان سره	راغواړی		
اٰمِنِيْنَ ۝۵۵ لا	لَا يَذُوْقُوْنَ	فِيْهَا	الْمَوْتَ	اِلَّا الْمَوْتَةَ	الْاُوْلٰى ۚ
په اطمینان سره	نۀ به څکی هغوئ	په هغې کښی	مرګ	مګر مرګ	اولنی
.....	دوی به ددنیا د اولنی (تیرشوی) مرګ نه بغیر بل مرګ نه څکی				
وَوَقٰىهُمْ	عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝۵۶	فَضْلًا	مِّنْ رَّبِّكَ ط	ذٰلِكَ هُوَ
اواوبه ساتی هغوئ لره	دعذاب ددوزخ نه	په فضل خپل سره	دطرفه درب ستا نه	دا هغه
او الله ﷻ به ئې ددوزخ دعذاب نه بچ کړی	.....داټول ستا د رب فضل دی	اوهم دغه		
الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۵۷	فَاِنَّمَا	يَسَّرْنٰهُ	بِلِسَانِكَ	
کامیابئ ده لویه	پس بیشکه	اسان کړې دی مونږ دا قران	په ژبه ستا سره	
لویه کامیابی ده	.....نومونږ دا قران پاک ستا په ژبه آسان کړې دی			
لَعَلَّهُمْ	يَتَذَكَّرُوْنَ ۝۵۸	فَارْتَقِبْ	اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ۝۵۹ ع	
دپاره ددې چې	دا خلق نصیحت حاصل کړی	پس انتظارکوه ته	بیشکه دوئ هم انتظار کونکی دی	
چې دوئ نصیحت قبول کړی	.....نو ته انتظار کوه	اودوئ هم انتظار کوی		

قوله تعالی:: اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ۝

جنتی خوراک او لباس ::دبدبختو د ذکر کولو نه پس اوس دنیکو خلقو ذکرکیږی پدې وجه قران پاک ته مثانی وئیلې شی دې دنیا کښې چې څوک دالله ﷻ نه چې قادر دی،مالک دې اوخالق دې ویریږی نو هغوئ به دقیامت په ورځ په جنت کښې ډیر په امن کښې اوسکونۀ سره وی .هلته به دوئ د مرګ نه ، دبې دخلئ نه،ویرې نه ، پریشانئ نه،غم او درد نه،مشقت اوشیطان اودهغه دمکرو فریب نه ، درب تعالی دخفګان نه ،غرض دټولو آفتونو اونقصانونونه به بې ویراو بې فکره وی .جهنمیانو ته به د زقوم ونه او داور په شان ګرمې اوبه ورکولې شی .اوجنتیانو ته به جنتی نهرونو نه اوبه ورکولې شی .دوئ ته به مختلف قسم ریښمې جامې ورکولې شی .اوپه هغې کښې به غټ او نرې ریښم هم وی .دوئ به په تختونو ډډې وهلی ناست وی او دچا به یو بل ته شا نه وی لکه د ټولو به یو بل ته مخ وی یعنی یو بل ته به مخامخ ناست وی .دې سره سره به دوئ ته حورې هم ورکړې شی . اودا به سرې سپینې او غټو سترګو

Scanned with Ca

والا به وی.اودا بۀ دومره پاکي وی چې دې ته به چا لاس نه وی لګولی .هغوئ به د یاقوت او مرجان په شان وی او ولې به نه وی هرکله چې هغوئ خپلو زړونو کښې دالله ﷻ ویره اچولې وه اودالله ﷻ په وینا ئې ددنیا د خواهشاتو نه ځان بچ کړې وو. نو الله ﷻ به دوئ سره داشان بهتر سلوک ولې نه کوی.

قیامت کښې به مرګ ذبح کړې شی::یو مرفوع حدیث پاک کښې دی که په دې حورو کښې یو حوره په یو تریخ سمندر کښې اوتوکی نو دهغوئ اوبۀ به خوږې شی(۱) دوئ ته به هلته قسم قسم میوې چې دوئ ئې غواړی نو ملاویږی به ورته .اوچې څه غواړی نو هغه به حاضرې وی چې څه خواهش کوی نوهغه به ورته ملاویږی بیا استثنی منقطع ده او ددې تاکید کوی .بخاری اومسلم کښې دی چې مرګ به د ګډ په شکل کښې راوستې شی اودجنت او دوزخ مینځ کښې بۀ ذبح کړې شی.او آواز به اوشی چې ائې جنتیانو تاسو بۀ اوس همیشه همیشه دپاره په جنت کښې یئ .اوائې جهنمیانو تاسو به اوس همیشه همیشه دپاره دلته یئ او تاسو ته بۀ مرګ نه رازی(۲) دسورۀ مریم په تفسیر کښې هم دا حدیث پاک تیرشوې دې .صحیح مسلم وغیره کښې دی چې جنتیانو ته به اووئیلې شی چې تاسوبه همیشه همیشه تندرست اوسئ او بیماری به درباندې نه رازی .او تاسو به همیشه همیشه والا نعمتونو کښې یئ او دې کښې به هیڅ کله هم کمې نه رازی .او تاسو به همیشه ځوانان یئ اوپه تاسو به بوډاتوب نه رازی (۳)بل حدیث پاک کښې دی چې څوک دالله ﷻ نه ویریږی نو هغه بۀ جنت ته داخلیږی .هلته بۀ نعمتونه وی. دې به هیچرې نه محتاج کیږی.نه به مری او نه به هلته جامې خیرنیږی.اونه بۀ ځوانی فنا کیږی (۴)د حضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشوچې جنتیان بۀ اودۀ کیږی که نه ؟ نوحضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې خوب خودمرګ رور دې ،جنتیان به اوده کیږی نه بلکه مزو او راحتونو کښې به وی(۵)داحدیث پاک نوروسندونو سره روایت شوې دې اوددې نه مخکښې دسندونو اختلاف تیر شوې دې والله اعلم . دې راحت اونعمت سره به دا هم لوئې نعمت وی چې دوئ له به الله ﷻ دجهنم نه نجات ورکړی .نومطلوب به حاصل شی او ویره به ختمه شی .پدې وجه ورسره فرمائی چې داصرف دالله ﷻ احسان اوکرم دې . صحیح حدیث پاک کښې دی چې تاسو صحیح سلامت اوسئ او نزدې نزدې اوسئ او یقین اوکړئی چې دچاعملونه هغه جنت ته نشی رسولې .خلقو اووئیل چې ستاسو عمل به هم تاسو نه رسوی ؟ نوحضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې آؤ ځماعملونه بۀ هم خو دالله ﷻ فضل او د هغه رحمت به راسره وی .(۶)

قوله تعالی:: فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ۝

دقران پاک صداقت::مونږ په خپل نازل کړی قران پاک کښې واضح اوصفا صفا دلیلونه ستاپه ژبه باندې نازل کړی دی .اوهغه ډیر بلیغ او فصیح او واضح او خواږه او پاخه دی.چې خلق دا اونه منی او دروغ ئې اوګڼې نو دوئ خبر کړه ورته اووایه چې ښه ده تاسو هم انتظار کوئی او زه هم منتظر یم(۷)تاسو به اووینئ چې دالله د طرفنه د چا تاکید کیږی ؟ دچا کلمه اوچتیږی ؟ چاته دنیا او آخرت ورکولې شی ؟ مطلب دادې چې ائې نبی ﷺ ته تسلی ساته چې فتح او نصرت به ستا وی . داځما عادت دې چې دخپلو

---

۱) ابن ابی حاتم وسنده ضعیف جدا .

۲) صحیح مسلم کتاب التفسیر سورة کهیعص باب قول الله عزوجل (وانذرهم یوم الحسرة) : ٤٧٣٠، صحیح مسلم: ٢٧٤٩.

۳) صحیح مسلم کتاب الجنة باب دوام نعیم اهل الجنة: ٢٨٣٧.

۴) ابوبکر ابی داود سجستانی صفة الجنة لابن نعیم : ١٠١.

۵) المعجم الاوسط : ٩٣٣، جدا ، النهایة بتقیقی : ١٤٩٤، صفة الجنة: ٨٤/٣،

۶) ددې پشان روایت مبارک صحیح بخاری کتاب الرقاق باب القصد والمداومة علی العمل : ٦٤٦٧، صحیح مسلم :٢٨١٨، کښې هم موجود دې.

نبیانو علیهم السلام اودهغوئ منونکی مددکوم. اوهغوئ لره پورته کوم. لکه چې ارشاد دې چې ﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ﴾ یعنی الله ﷻ دالیکلی دی چې زه او ځما رسول به غالب کیږو. بل آیت مبارک کښې دی چې ﴿اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا﴾ مونږ به یقینی طور خپلو نبیانو اوایماندارو سره مدد کوؤ په دنیا کښې هم اوپه آخرت کښې هم. په هغه ورځ چې په کومه ورځ گواهان اودریږی. اوظالمانو ته به دهغوئ عذر فائده نه ورکوی. پدوئ بهٔ لعنت وی او ددوئ دپاره بد کور دې.

الحمد لله دسورة دخان تفسیر ختم شو.

دالله ﷻ شکر دې اودهغه احسان دې چې د هغه دطرفنه مونږ ته داتوفیق نصیب شو اوهغه دبدو نه بچ کونکې دې.

ایاتونه		سورة الجاثية مكية وهي سبع وثلاثون اية واربع ركوعات		رکوع گانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۳۷		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		۴
حٰمٓ ۱ ج		تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝		
ح م		نازلیدل ددې کتاب	دطرفه دالله نه دی	چې غالب دې	او حکمت والا دې	
حم		ددې کتاب نازلیدل دالله ﷻ دطرفه دی	چې زبردست او صاحب د حکمت دې			
اِنَّ		فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝		
بیشکه		په آسمانونو کښې	او په زمکه کښې	خامخا ډیرې نښې دی	دپاره دمومنانو	
په آسمانونو او زمکه کښې دایمان دارو خلقو دپاره (دالله د وحدانیت) ډیرې نښې دی						
وَفِيْ		خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ		
او په پیدائش ستاسو کښې		او په هغې کښې چې الله خوروی	دځناورونه	ډیرې نښې دی		
اوپخپله ستاسو په پیدائش کښې او څومره ساه لرونکی څیزونه چې دی په دې ټولو کښې د یقین						
لِّقَوْمٍ		يُّوْقِنُوْنَ ۝ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ		
دپاره دهغه قوم چې یقین کوی		او په اختلاف دشپې	او دورځ کښې	او په هغې کښې		
لرونکو دپاره ډیرې نښې دی		او دشپې په پرله پسې تګ راتګ کښې او کوم رزق چې الله تعالی				
اَنْزَلَ اللّٰهُ		مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ		
چې نازل کړې دې الله	دآسمان نه	درزق (باران) نه	پس ژوندئ ئې کړه	په هغې سره	زمکه	
د آسمان د طرفه نازلوی	نوپه هغې باندې د مرګ (اوچوالی) نه پس زمکه ژوندئ					
بَعْدَ		مَوْتِهَا وَتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ		
روستو	دمرګ دهغې نه	او په چلیدلو	دهوا ګانو کښې	ډیرې نښې دی	دپاره دهغه قوم	
(تازه) کوی	اود بادونو په اوړیدو رااوړیدو کښې دهوښیارانو دپاره ډیرې نښې دی					

Scanned with Ca

يَّعْقِلُوْنَ ۝۵
چې دعقل نه کار اخلي |

قوله تعالى:: اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
د الله تعالى د قدرتونو بيان: الله ﷻ خپل مخلوق ته هدايت کوي چې دهغه دقدرت په نخښو کښې غور او فکر کوئ.دالله ﷻ نعمتونه اوپيژنئ اوبيا دهغه شکر اداکړئ.اوګورئ چې دالله ﷻ ذات څومره قدرتونو والا دې او زمکه او آسمان هغه ذات پيداکړی دی .دسمندر بې شانه مخلوق هم هغه پيدا کړی دی،ورځې نه شپه اوشپې نه ورځ راويستل ، دشپې تيارې نه پس رڼا او ورځې رڼا نه پس تياره راوستل دهغه قبضه کښې دی . دحاجت په وخت کښې بارانونه هم وروی. درزق نه مراد باران دې . په دې وجه چې دخوراک څيزونه دهغې په وجه پيدا کيږی .اوچه زمکه دباران نه پس شنه شی او قسم قسم څيزونه راوزرغون کړی دشمال،جنوب ، مشرق او مغرب هوا ګانې هر وخت چليږی .ځينو هوا ګانو سره باران هم رازی اوځينې وريځې داوبو ډکې وی.ځينې د روح خوراک جوړيږی او ځينې د نورو کارونو دپاره چليږ.اول فرمائی.چې په دې کښې ايماندارو دپاره نخښې دی او بيا فرمائی چې يقين کوؤنکو دپاره . بيا فرمائی چې دعقل والو دپاره . دا ديو عزت نه دبل عزت والا حال ته ترقی ورکول دی. ددې مثال دسورة بقره آيت (اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ) کښې دې . امام ابن ابی حاتم دلته يو اوږد اثرراوړی دی هغه غريب دې په هغې کښې انسان دځلور قسمه ګډوډو څيزونو نه پيدا کول هم دی ، والله اعلم.

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ	نَتْلُوْهَا	عَلَيْكَ	بِالْحَقِّ ۚ	
| دا نښې دالله دی | چې مونږه بيانوؤ دا |	تاته	| دحق سره |		
.....دا دالله ﷻ ايتونه دی | چې مونږ ئې تاته په حق سره اوروؤ				
فَبِاَيِّ	حَدِيْثٍ	بَعْدَ اللّٰهِ	وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝۶	وَيْلٌ
پس په کومه خبره باند به | روستو دالله نه | او دنښو دهغه نه ايمان راوړی دوئ |				تباهی ده |
نو دا خلق به دالله ﷻ اودهغۀ د آيتونو نه پس په کومه خبره ايمان راوړی | د هر دروغژن				
لِّكُلِّ	اَفَّاكٍ	اَثِيْمٍ ۝۷	يَّسْمَعُ	اٰيٰتِ اللّٰهِ	تُتْلٰى	عَلَيْهِ	ثُمَّ
دپاره دهر دروغژن | ګنهګار سړی | چې اوری | آيتونه دالله			| چې لوستلې کيږی | په هغه باند | بيا			
نافرمان دپاره تباهی ده | .....چې دالله ﷻ آيتونه کوم چې ده ته اورولې شی اوری							
يُصِرُّ	مُسْتَكْبِرًا	كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ				فَبَشِّرْهُ	
ټينګتيا کوی | په غرور سره | لکه چې هغه نۀ دی اوريدلی هغه | پس زيرې ورکړه هغه ته |							
نوپه خپل غرور کښې پروت وی | لکه چې هډو اوريدلی ئې نه وی | نوته داسې کس ته							
بِعَذَابٍ	اَلِيْمٍ ۝۸	وَاِذَا	عَلِمَ	مِنْ اٰيٰتِنَا	شَيْـًٔا	اتَّخَذَهَا	
په عذاب | دردناک سره | او هر کله چې | پوهه شی | دآيتونو زمونږ نه | په څه څيز | نو نيسی هغه							
ددردناک عذاب زيرې ورکړه | او څه وخت چې زمونږ په آيتونو کښې ديو آيت نه خبر شی | نو په هغې							

Scanned with Ca

هُزُوًا ؕ	أُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	عَذَابٌ مُّهِينٌ ۝	مِنْ وَّرَآئِهِمْ
په ټوقو سره	دا خلق چې دی	دپاره ددوئ	عذاب سپکونکی دی	په مخکښې ددوئ
پورې ټوقې کوی	داسې خلقو دپاره	سپکونکی عذاب مقرر دی	.....	د دوئ نه مخکښې
جَهَنَّمُ ۚ	وَلَا يُغْنِيْ	عَنْهُمْ	مَّا	كَسَبُوْا	شَيْـًٔا	وَّلَا
دوزخ دی	او دفع به نه کړی ددوئ نه	هغه عمل	چې کړې وی دوئ	هیڅ شیز	اونه	
دوزخ تیار دی	دوی چې په دنیا کښې څه کړی وی هغه به ورته هیڅ فائده ورنکړی				اونه به ورته هغه	
مَا	اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	أَوْلِيَآءَ ۚ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ
هغه (سرپرستان)	چې نیولی دی دوئ	ماسوا دالله نه	سرپرستان	او دپاره دهغوئ	عذاب
معبودان څه فائده ورکړی کوم چې دوی دالله ﷻ نه سوا خان دپاره دوستان نیولی وو					اوهغوئ دپاره لوئی عذاب	
عَظِيْمٌ ۝	هٰذَا هُدًى ۚ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ
لوئ دی	دا قرآن	هدایت دی	او هغه کسان	چې انکار ئې اوکړو	دآیتونو درب خپل نه	
مقرر دی	دا(قران پاک سراسر) هدایت دی		اوچا چې دخپل رب د آیتونونه انکار کړې دی			
لَهُمْ	عَذَابٌ	مِّنْ رِّجْزٍ أَلِيْمٌ ۝
دپاره دهغوئ	عذاب دی	دعذاب دردناک نه
هغوئ دپاره دسختئ نه ډک عذاب تیار دی		

قوله تعالی:: تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ

قران پاک دتوهین نه بچ کړئ .مطلب دادی چې قران کریم دحق طرفنه په ډیره صفائی او واضح طورنازل شوی دی ،ددۀ روښانه آیتونه تاته تلاوت کولې شی . چې دوئ ئې آوری اوبیا هم پرې ایمان نه راوړی . اونه په دې عمل کوی نوبیا بۀ آخر دوئ په څه خبره ایمان راوړی ؟ددوئ دپاره وئیلې کیږی او په دوئ افسوس دې چې دژبی نه دروغ ویونکی او دزړه نه کافران دی ددۀ خبرې آوری اوخپل کفر کښې او انکار کولو کښې کلک ولاړ دی . لکه چې دوئ هډو آوری نه . دوئ ته چې ددوئ دپاره دالله ﷻ سره سزا ده ، دقرآن پاک آیتونه ددوئ ټوقې شوی دی ؟ لکه څنګه چې دوئ ئې خما کلام پورې ټوقې مسخرې کوی نو سبا ته بۀ څه هم دوئ ذلیله او رسواکړم اودوئ ته به سزا ورکړم یو حدیث پاک کښې دی چې ددښمنانو ملک ته داسې حالت کښې مه ځئ چې تاسو سره قران پاک وی .هسې نه چې هغوئ ددې بې قدری اوکړی او ددې بې آدبی اوکړی (۱)بیا دهغه ذلیله عذاب ذکر کوی چې اوفرمائی چې دا قسم خلق به جهنم ته داخلولې شی ، ددوئ مال او اولاد اوددوئ د دروغو معبودان چې دوئ ورته ټول عمر عبادت اوکړو هغه به دوئ هیڅ په کار رانشی دوئ ته به زبردست او لوئې عذابونه ورکولې شی بیا ارشاد دی چې داقران پاک سراسر هدایت دې او ددې د آیتونو مبارکو چې څوک منکر وی هغوئ دپاره سخت او دردناک عذاب دې . والله اعلم .

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب کراهیة السفر الی .....:۲۹۹۰، صحیح مسلم:۱۸۶۹، ابو داود:۲۶۱۰، ابن ماجه :۲۸۷۹.

Scanned with Ca

اَللّٰهُ الَّذِیْ سَخَّرَ لَكُمُ
۱ الله هغه ذات دي ۱ چې تابع ئې کړو ۱ دپاره ستاسو
۱ الله ﷻ هغه ذات دي چې ستاسو دپاره ئې سمندر تابع
الْبَحْرَ لِتَجْرِیَ الْفُلْكُ فِیْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا
دریاب ۱ دپاره ددې چې اوګرځي ۱ کشتئ ۱ په هغې کښې ۱ په حکم دهغه سره ۱ اودپاره ددې چې تاسوتلاش کړئ
کړې دې ۱ چې بیړئ په کښې دهغه په حکم سره روانې دی ۱ او ددې دپاره چې تاسو دهغه دفضل
مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا
دفضل دهغه نه ۱ اودپاره ددې چې تاسو شکر ادا کړئ ۱ او تابع ئې کړل ۱ دپاره ستاسو ۱ هغه څیزونه
اولتوئ ۱ اودې دپاره چې تاسوشکر اوباسئ ۱ اوځومره څیزونه چې په اسمانونو اوپه زمکه کښې
فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا مِّنْهُ ؕ اِنَّ
چې په اسمانونو کښې دی ۱ او هغه ۱ چې په زمکه کښې دی ۱ ټول ۱ دطرفه خپل نه ۱ بیشکه
کښې پراته دی ۱ هغه ټول ئې ستاسو دپاره د خپل طرف نه تابع کړی دی ۱ بیشکه په دې کښې د
فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ قُلْ لِّلَّذِیْنَ
په دې کتاب ۱ ډیرې نښې دي ۱ دپاره دهغه قوم ۱ چې فکر کوی ۱ اووایه ۱ هغه کسانوته
فکرد خاوندانو دپاره نخښې پرتې دی ۱ .....ته مومنانو ته اووایه چې هغه خلق
اٰمَنُوْا یَغْفِرُوْا لِلَّذِیْنَ لَا یَرْجُوْنَ اَیَّامَ اللّٰهِ
چې ایمان راوړو هغوئ ۱ چې ببښنه کوئ ۱ هغه کسانوته ۱ چې امید نه لری هغوئ ۱ دبدو ورځو دالله
.....(دخپل اړخ نه) معاف کړی ۱ چې دالله ﷻ په عذابونو یقین نه ساتی ۱
لِیَجْزِیَ قَوْمًۢا بِمَا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾
دپاره ددې چې بدله ورکړی الله ۱ یو قوم ته ۱ په سبب دهغې عمل ۱ چې ووئ هغوئ ۱ چې کوئ به ئې
د دې دپاره چې الله ﷻ یو قوم ته د هغه اعمالو بدله ورکړی کوم چې هغوی کوی
مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَیْهَا ۬
چاچې عمل اوکړو ۱ نیك ۱ انو دپاره دخان دهغه دې ۱ اوچاچې عمل اوکړوبد ۱ انو ضررئې په هغه دې
چاچې دنیکئ کار اوکړو نو خپل خان له ئې اوکړو اوڅوک چې بد کوی نو دخپل ځان سره بد کوی
ثُمَّ اِلٰی رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۵﴾
بیا به ۱ رب ستاسو ته ۱ واپس کړې شئ تاسو ۱
بیا تاسوټولو دپاره خپل رب ته واپس ورتګ دی ۱

قوله تعالی:: اَللّٰهُ الَّذِیْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ

انسان باندې دالله ﷻ احسانات:: الله ﷻ خپل نعتمونه بیانوی چې دهغه ذات حکم سره تاسو سمندر کښې دخپلې خوښې سفرونه کوئی. په لویو لویو کشتو کښې سامانونه یو ځائې نه بل ځائې ته اوړئی. تجارتونه او ګټې کوئی. داځکه چې تاسو په دې دالله ﷻ شکرادا کړئی اوګټه حاصله کړئی. اودرب احسان اومنئ بیا هغه ستاسو دپاره دآسمان ځیزونه لکه نمر سپوږمئ ستوری اودزمکې ځیزونه لکه غرونه، نهرونه اوستاسو دفائدې بې شماره ځیزونه ئې تاسو دپاره قابو کړی دی. داټول دالله ﷻ فضل او احسان دې اوداهر څه دهغه طرفنه دی. لکه چې ارشاد دې چې ﴿ ومابکم من نعمة فمن الله ﴾ یعنی تاسو سره چې کوم نعمتونه دی ټول دالله ﷻ دطرفنه دی. اودا دهغه په نومونو کښې یو نوم دې اودا ټول هر څه دهغه دطرفنه دی. او ددې نه تاسو اخستئ شئ اونه تاسو ددې نه تښتولې شئ. هریو دا یقین لری چې هغه داسې دې (۱) یو سړی حضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه تپوس اوکړو چې مخلوق د څه ځیزونونه جوړ کړې شوې دې؟ نو دوئ اوفرمائیل چې دنور نه او تیارې نه او ښاورې نه او ورته ئې اوفرمائیل چې لارشه اوکه ابن عباس ﷺ دې اولیدو نو دهغه نه هم ددې تپوس اوکړه. دې سړی دهغوئ نه هم تپوس اوکړو نو داجواب ئې ورکړو چې هغه ته ورشه او ورته اووایه چې دا ټول ځیزونه د څه نه پیدا شوی دی؟ هغه واپس شو او سوال ئې اوکړو نو دوئ ﷺ ورته دا آیت مبارک تلاوت کړو (۲). داثر غریب سره سره منکر هم دی. د غور وفکر عادت ځان کښې پیدا کړئی او دقیامت دمنکرانو سپورې ستغې برداشت کوئی اود اهل کتابوا ومشرکانو تکلیفونه زغمئ. داحکم داسلام په شروع کښې وو خو روستو دجهاد اوجلاوطنئ احکامو نه پس بیانوی. بیا فرمائی چې تاسو په دوئ سترګې پټوئ ددوئ دعملونو سزا به دوئ ته مونږ ورکوؤ. په دې وجه ددې نه پس فرمائی چې تاسو ټول به مونږ ته واپس کیږئی. اوهریو ته به دنیکئ اوبدئی بدله ورکړې شی. والله اعلم.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ			
او بیشکه ورکړو مونږ	بنی اسراءیلو ته			
اومونږ بنی اسرائیلو ته کتاب				
الْكِتٰبَ	وَالْحُكْمَ	وَالنُّبُوَّةَ	وَرَزَقْنٰهُمْ	مِّنَ الطَّيِّبٰتِ
کتاب	او حکم	او پیغمبری او ورکړو مونږ هغوئ ته		دپاکو سامانونه
او حکمت او نبوت ورکړې وو	..... او ښه پاکیزه خوراکونه مو ورته ورکړی وو			
وَفَضَّلْنٰهُمْ	عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۚ		وَاٰتَيْنٰهُمْ	
او فضیلت ورکړو مونږ هغوئ ته	په خلقو دزمانې خپلې باندې		او ورکړل مونږ هغوئ ته	
اوپه ټول جهان مو ورته فضیلت ورکړې وو	..... اوهغوئ ته مو ددین متعلق			
بَيِّنٰتٍ	مِّنَ الْاَمْرِ ۚ	فَمَا اخْتَلَفُوْٓا	اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِ مَا
واضحه هدایات	دکار ددین نه	پس اختلاف اونه کړو هغوئ	مګر	روستو دهغې نه
ښکاره دلیلونه ورکړی وو	..... نودغه خلقو د علم راتلونه پس دخپل			

(۱) الطبری: ۲۲/۶۵.
(۲) حاکم: ۲/۴۵۲.

Scanned with Ca

جَآءَهُمُ الْعِلْمُ لا	بَغْيًۢا	بَيْنَهُمْ ط	اِنَّ رَبَّكَ
چې راغې هغوئ ته علم	د وجې د زیاتې کولو نه	په منځ خپل کښې	بیشکه رب ستا به
ضد په وجه اختلاف شروع کړو	.....		بیشکه ستارب به

يَقْضِيْ	بَيْنَهُمْ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ	فِيْمَا	كَانُوْا
فیصله کوی	په منځ دهغوئ کښې	په ورځ دقیامت	په هغه معاملو کښې	چې وو هغوئ
دهغوئ په مینځ کښې د قیامت په ورځ په هغه خبرو کښې فیصله اوکړی				په کومو کښې چې دوی

فِيْهِ	يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۷﴾	ثُمَّ جَعَلْنٰكَ	عَلٰى شَرِيْعَةٍ	مِّنَ الْاَمْرِ
په هغې کښې	چې اختلاف به نې کولو	بیا اوګرځولې مونږ ته	په غټه لاره	دکار ددین نه
اختلاف کوی	.....	بیا (ائې پیغمبره) مونږ ته ددین په یوه خاصه طریقه روان کړې		

فَاتَّبِعْهَا	وَلَا تَتَّبِعْ	اَهْوَآءَ	الَّذِيْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾
پس څه ته هم په دغه لار	او مه څه ته	په خواهشاتو	دهغه کسانو پسې	چې علم نه لري
نوته د دغه طریقې تابعداری کوه	او دهغه خلقو د خواهشاتو تابعداری مکوه			چه نه پوهیږی

اِنَّهُمْ	لَنْ يُّغْنُوْا	عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ	شَيْـًٔا ط	وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ
بیشکه دوئ	هر ګزیه پکار نه شی ستا	په مقابله دالله کښې	هیڅ قدرله	ابیشکه چې ظالمان خلق
دوئ دالله ﷻ په مقابله کښې ستا هیڅ په کار نشی راتلې				او ظالمان خلق

بَعْضُهُمْ	اَوْلِيَآءُ	بَعْضٍ ج	وَاللّٰهُ	وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹﴾	هٰذَا بَصَآئِرُ
خپلې دهغوئ	دوستان	دځینو نورو دی	او الله	دوست دمتقیانو دی	اداد عقلمندئ رنړا ګانې دی
پخپل مینځ کښې دیو بل دوستان دی		او الله ﷻ د پرهیزګارانو دوست دی			دا قران پاک د عامو

لِلنَّاسِ	وَهُدًى	وَّرَحْمَةٌ	لِّقَوْمٍ	يُّوْقِنُوْنَ ﴿۲۰﴾
دپاره دخلقو	او هدایت دی	او رحمت دی	دپاره دهغه قوم	چې یقین کوی
خلقو دپاره دهوښیارتیا اودهدایت ذریعه ده				اود یقین کونکو دپاره لوئې نعمت دی

قوله تعالی:: وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ

بنی اسر ائیلوباندې انعامات :بنی اسر ائیلو باندې چې الله ﷻ کوم انعامات کړی وو ،هغه ورته یادوی. فرمائی چې په هغوئ موکتابونه نازل کړل اورسولان موورته اولیږل اومونږ ورته حکومت ورکړو. غوره خوراکونه اوصفا صفا خیزونه مو ورکول او دهغې زمانې په خلقو مو فضیلت ورکړو. اودوئ ته مو ددین غوره او بهتر دلیلونه ورکړل . او په دوئ دالله ﷻ حجت قائم شو. بیا دې خلقو کښې اختلاف پیدا شو اومختلفې دلې شوې اوددې وجې نفسی خواهشات اوخودې وه ائې نبی ﷺ ستارب ﷻ به ددې اختلافاتو فیصله دقیامت په ورځ اوکړی دې کښې دې امت ته خبرداری دې چې خبردار تاسو دهغوئ په شان شئ اودهغوئ په پل روان شئ په دې وجه الله ﷻ فرمائی چې ته دخپل رب دوحی تابعدار اوسه اومشرکانو سره هیڅ غرض مه ساته ددوئ دوستی خو ددوئ په خپلو کښې دی. دوئ

خپلو کښې ملاویدونکو ته نقصان ورکوی دپرهیزګارانو ولی اوناصر اوکارساز الله ﷻ دې . چې دوئ دتیارو نه راوباسی اورنړا طرفته ته ئې راولی اودکافرو دوستان شیطان دی چې هغوئ د رنړا نه تیاروطرفته بوځی . داقرآن پاک دهغوئ خلقو دپاره دې چې یقین ساتی او دلیلونو سره سره هدایت اورحمت دې .

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ	اجْتَرَحُوا	السَّيِّئَاتِ	أَنْ نَجْعَلَهُمْ	كَالَّذِينَ
آیا گمان کوی هغه خلق	چې کوی	بدکارونه	چې اوبهٔ ګرزوؤ مونږ دوئ	پشان دهغه کسانو
آیا څوک چې بدکارونه کوی	د هغوئ دا خیال دې	چې مونږ به ه هغوی د هغعه خلقو سره برابر کړو		
آمَنُوا	وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ	سَوَاءً	مَحْيَاهُمْ	وَمَمَاتُهُمْ
چې ایمان ئې راوړو	او عملونه ئې اوکړل نیك	چې برابر به وی	ژوند دهغوئ	او مرګ دهغوئ
کوم چې ایماندار دی	او دنیکئ کارونه کوی	چې ددې ټولوژوند اومرګ به یو برابر شی		
سَاءَ مَا	يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾	وَخَلَقَ اللَّهُ	السَّمَاوَاتِ	وَالْأَرْضَ
ډیر بد دې هغه	چې دوئ ئې حکم کوی	او پیدا کړل الله	اسمانونه	او زمکه
دوئ ډیره خرابه فیصله کوی	.....	اوالله ﷻ اسمانونه او زمکه په یو مقصد سره پیدا		
بِالْحَقِّ	وَلِتُجْزَىٰ	كُلُّ نَفْسٍ	بِمَا	كَسَبَتْ
دحق سره	او دپاره ددې چې بدله ورکړې شی	هر نفس ته	هغه	چې ګټلی دی هغه
کړی دی	.....او دا چې هر چاته د هغه عمل بدله ورکړې شی کوم چې هغه کړې وی			
وَهُمْ	لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٢﴾	أَفَرَأَيْتَ	مَنِ اتَّخَذَ	إِلَٰهَهُ
او په دوئ به	هیڅ ظلم نه کیږی	آیا پس وینې ته	هغه څوک چې وې نیوؤ	معبود خپل
او په هغوئ به هیڅ ظلم نه کیږی	آیا تا هغه کس نه دې لیدلې چې دخپل نفس خواهش ئې			
هَوَاهُ	وَأَضَلَّهُ	اللَّهُ	عَلَىٰ عِلْمٍ	وَخَتَمَ
خواهشاتو خپلو لره	او بې لارې کړو هغه لره	الله	سره د علمه	او مهر ئې اووهو
خپل معبود جوړ کړې دی	او الله ﷻ دغه کس د پوهې باوجود ګمراه کړې دی	او دهغه		
عَلَىٰ سَمْعِهِ	وَقَلْبِهِ	وَجَعَلَ	عَلَىٰ بَصَرِهِ	غِشَاوَةً
په غوږونو دهغه باندې	او په زړه دهغه باندې	اووانې چوله	په سترګو دهغه باندې	پرده
په غوږونو او په زړه ئې مهرلګولې دې	اودهغه په سترګو ئې پرده اچولې ده			
فَمَنْ	يَهْدِيهِ	مِنْ بَعْدِ اللَّهِ	أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾	
پس څوک دی	چې لارواوښائی هغه ته	اروستو دالله نه	آیا پس تاسو نصیحت نه اخلئ	
نو دالله ﷻ (دپریخودو) نه پس ورته بل څوک لارواوښائی ؟	نوتاسوغور نه کوئ ؟			

قوله تعالی:: أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ

Scanned with Ca

مؤمن او کافر برابر نشی کیدی :الله ﷻ فرمائی چې مومن او کافر برابر نشی کیدلی. لکه څنګه چې بل ایت مبارک کښې دی چې دوزخی او جنتی نشی برابر کیدی. جنتیان کامران او کامیاب دی. دلته ډاهم بیان نشی کیدی چې د کفر او ایمان والا او بدو اونیکو والا مرګ او ژوند یو شان نشی کیدی. اونه ئې آخرت او دنیا یو شان کیدې شی. داخو زمونږ په دات او صفت ډیره لویه بدګمانی ده.

اصل دین څلو څیزونه دی :مسند ابویعلی کښې حضرت ابوذر ﷺ فرمائی چې الله ﷻ په څلورو څیزونو د خپل دین بنیاد ایخودې دی. څوک چې ددې نه مخ واړوی اوپه دې عمل نه کوی نو هغه به الله ﷻ سره دفاسق په حیثیت سره ملاقات کوؤنکی وی. دوئ نه تپوس اوشو چې هغه څلور څیزونه کوم کوم دی ؟نو دوئ اوفرمائیل چې هغه دادی ① کامله عقیده لرل ② حلال ③ حکم او ممانعت ④ حرام. دهغه ذات د حکمونو تعمیل کول. هغه ذات چې کوم څیزونه منع کړی دی دهغې نه منع کیدل. اود حلالو او حرامو اونهی مالک صرف هغه ذات ګنړل. بس دا اصل دین دې. دحضرت نبی کریم ﷺ فرمان دې چې څنګه د کیکړ دونې نه انګور نه پیدا کیږی داشان بدکاره خلق دنیکانو درجه نشی موندې.(۱) داحدیث پاک غریب دې. سیرت ابن اسحاق کښې دی چې دکعبې په بنیاد کښې یو کانړئ راووتلو چې په هغې ئې لیکلی وو چې تاسو بدئی کوئی او دنیکو امید ساتئ دا بالکل داسې دی لکه چې ازغی داړې ونې نه څوک دانګور طمع لری. طبرانی کښې دی چې حضرت تمیم داری دشپې په تهجدو کښې بیا بیا دالوستلو تردې چې سحر شو ،بیا فرمائی چې الله ﷻ زمکه او آسمان په عدل سره پیدا کړی دی. هغه به هربنده ته بدله ورکوی. اوپه چا به دهغه لوئې ذات طرفنه ظلم نه وی. بیا الله ﷻ فرمائی چې تاسو به هغوئ هم لیدلی وی چې خپل خواهشاتو نه ئې معبودان جوړ کړی دی. چې کوم کارته ئې طبیعت اوشی نو هغه اوکړی او چې دکوم نه ئې طبیعت منع کړی نو هغه نه کوی. دا آیت مبارک دمعتزله د اصولو رد کوی چې نیکی او بدی عقلی ده. حضرت امام مالک ددې تفسیر کولو سره فرمائی چې ددوئ په زړونو کښې چې دچا دعبادت خیال رازی دهغه عبادت شروع کوی. ددې نه پس جملې دوه معنی لری. یو دا چې الله ﷻ دوئ دخپل علم په وجه دګمراهئ لائق ګنړل. دویمه معنی دا چې هغه لره حکم دلیل اوحجت راورسیدو بیا ئې دوئ ګمراه کړل. دادویمه خبره داولې دپاره مستلزم ده او اوله دویمی دپاره لازم ده. ددوئ په غوږونو مهر دې ، دفائدې او ګټې خبر نه آوری. ددوئ په زړونو مهر دې چې دهدایت خبر نه قبلوی. ددوئ په زړونو پردې دی چې حجت نه وینی.نو دالله ﷻ نه پس دوئ ته څوک لاره خودلې نشی ، ولې تاسو عبرت نه حاصلوئی ، لکه یو ځائې کښې فرمائی چې ﴿مَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ﴾ څوک چې الله ﷻ ګمراه کړی دهغه هادی نشته دې او هغه دوئ پریږدی چې پخپله سرکشئ ء اخته وی.

وَقَالُوْا مَا هِيَ	اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا	نَمُوْتُ	وَنَحْيَا	
اووائی دا خلق نه دی دا ژوند	امګر ژوند زمونږ دی	ددنیا	امونږه مرو (هم دلته)	اومونږه ژوندی کیږو (هم دلته)
او دوی وائی چې زمونږ ژوند خوبس هم دادنیاوی ژوند دی			چې مونږ مرو اوپیدا کیږو	(او داسلسله روانه ده)
وَمَا يُهْلِكُنَآ	اِلَّا الدَّهْرُ ۚ	وَمَا لَهُمْ	بِذٰلِكَ	مِنْ عِلْمٍ ۚ
او نه هلاکوی مونږ	مګر زمانه	او نشته دوئ لره	په دې خبره باندې	هیڅ علم
اوبس دغه زمانه ده چې مونږ وژنی	.....	اودوئ سره په دې خبره هیڅ دلیل نشته		

(۱) ابو یعلی.

Scanned with Ca

اِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۳۲﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا
نه دی دوئ	مګر	ګمان کوی	او هر کله چې	لوستلې کیږی	په دوئ باندې	ایتونه زمونږ	
دوئ خو صرف ګمان کوی	او کله چې ورته زمونږ ښکاره ایتونه اولوستې شی
بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ
واضحه	نو نه وی	دلیل ددوئ	مګر	دا چې وائی	راولئ	پلاران زمونږه	که یئ تاسو
نو دوئ سره ددې نه سوا بل هیڅ جواب نه وی	چې دا اووائی که تاسو رښتینی یئ	انوزمونږ (مړه) پلاران
صٰدِقِيْنَ ﴿۳۳﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ
رښتینی		اووایه چې الله	ژوند درکوی تاسو ته	بیا به مړه کوی تاسو	بیا به راجمع کوی تاسو
نیکونه راولئ	ورته اووایه چې هغه الله دې چې تاسوژوندی کوی	بیا تاسو مړه کوی	بیا به تاسو ژوندی کړی
اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ
ورځې دقیامت ته		چې نشته شك په هغې کښې	ولیکن	زیات خلق
بیابه هم هغه تاسو دقیامت په ورځ راجمع کړی	چې په هغې کښې هیڅ شک نشته	خو زیات خلق
لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ ع
نه پوهیږی
(په دې هم) نه پوهیږی

قوله تعالى:: وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ

د فلاسفرانو د نظریې رد ::ددهری کافرانو اوهغوئ پشان عقیدې والوحال بیانیږی چې دوئ دقیامت دورځې نه منکر دی .اودا وائی چې دا ددنیا انتهاء اوابتداء ده. څوک ژوندی کوی او څوک مړۀ کوی . اوقیامت بالکل هیڅ څیز نه دې فلاسفرانو کښې چې علم کلام ئې منلو هغوئ بۀ هم داسې وئیل او داخلق دابتداء اوانتها قائل نه وو.او په فلاسفرانو کښې چې کوم دهریه او دوه مخیز خلق وو هغوئ دخالق نه هم منکر وو. ددوئ خیال وو چې هر شپږ دیرش کاله پس د زمانې یودور ختمیږی او هر څیز خپل اصلی حالت ته رازی اوددا سیې څو دورونو هغوئ قائل وو. اصل کښې دوئ دمعقول سره هم بې کاره جګړې کولې او دمنقول نه ئې هم مخ وارولو. او وئیل ئې چې دزمانې ګردش هلاکونکئ دې اوالله ﷻ نه دې . الله ﷻ فرمائی چې ددې خبرې دوئ سره هیڅ دلیل نشته دې،او سوا د خیال او وهم نه دوئ سره هیڅ نشته دې .

زمانې ته کنځل مه کوئ ::دابوداود وغیره یو صحیح حدیث پاک کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چې الله ﷻ فرمائی چې بنده ماته تکلیف راکوی او هغه زمانې ته کنځل کوی او اصل زمانه څۀ یم ، ټول کارونه او د ورځې شپې راوستل څما کار دې[1] ، یوروایت کښې دی چې د جاهلیت زمانې دخلقو خیال وو چې مونږ ورځ او شپه هلاکوی [2] ، او هغه موژوندی کوی نوالله ﷻ په خپل کتاب کښې دانقل کړل ، وې فرمائیل چې هغوئ به زمانې ته بد وئیل نو الله ﷻ اوفرمائیل چې ماته بنیادم تکلیف راکوی او هغه زمانې ته کنځل کوی اوزمانه څۀ یم. ټول کارونه ماسره دی او ورځ اوشپه څۀ راولم . ابن

---

[1]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الجاثیة :٤٨٢٦، صحیح مسلم:٢٢٤٦.

[2]) صحیح بخاری کتاب الادب لاتسبو الدهر : ٦١١٨، صحیح مسلم: ٢٢٤٦، ابن حبان: ٥٧١٤.

Scanned with Ca

ابی حاتم کښې دی چې بنیادم زمانې ته کنځل کوی ځه زمانه یم شپه اوورځ ځما لاس کښې دی یو بل حدیث پاک کښې دی چې ما دخپل بنده نه قرض طلب کړو خوهغه راته رانکړو ، هغه زمانې ته کنځل کوی او وائی چې هائې هائې زمانه اوزمانه ځه یم ،(۱) امام شافعی رحمه الله او ابوعبیده وغیره امامان دلغت او تفسیر ددې حدیث پاک په شرح کښې وائی چې د جاهلیت عربو کښې چې به څه آفت او مصیبت اوتکلیف راغلو نو هغوئ به دهغې نسبت زمانې ته کولو او زمانې ته کنځل کول اصل کښې الله ﷻ ته کنځل کول دی . چې دچا په لاس او وس کښې زمانه ده اود راحت او مصیبت مالک دې اوهغه دالله ﷻ کریم ذات دې ، نوهغه کنځل حقیقی فاعل یعنی الله ﷻ ته کولې شی . پدې وجه حضرت نبی کریم ﷺ دې حدیث پاک کښې دافرمائی او خلق ددې نه منع کوی داتصریح ډیره صحیح او درست ده ، امام ابن حزم وغیره چې ددې حدیث پاک نه کوم مطلب اخذ کړې دې چې د هر دالله ﷻ نومونو کښې یو نوم دې ، دابالکل غلط دې ، والله اعلم.

قوله تعالی:: وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا

بیا ددې بې عملو دفضول بحث بیان کیږی چې د قیامت قائمیدو او دوباره ژوندی کیدل بالکل صفا دلیلونه چې کله دوئ ته ورکولې شی اوقائل کولې شی نو دوئ سره بالکل څۀ جواب نه وی . نودوئ وائی چې ښه ده بیا مونږ پلاران او نیکونه ژوندی کړئی او زمونږ ته اوښائې چې مونږ هغه اومنو. نو الله ﷻ فرمائی چې ستاسو پیدا کول او ستاسو مړۀ کیدل تاسو په خپلو سترګو وینئ چې تاسو هیڅ نه وې . هغه ذات تاسوپیدا کړئی اوهغه طرفته به تاسو ورځئ . نو چې څوک په اول ځل پیدا کولو باندې قادر دې نو هغه په دوباره پیدا کولو به ولې قادر نه وی ؟ لکه عقلی لحاظ سره د هدایت سره دا خبره په واضح طور ثابته ده چې څوک په اول سر کښې یو څیز جوړوی نو دهغې دوباره جوړول د اولنی ځل نه آسان دی . نودلته تاسولره دنیا ته دوباره نه راولی لکه څنګه چې تاسو وائی چې زمونږ پلاران او نیکونه ژوندی کړئی. داخو دعمل کور دې . دجزا ورځ قیامت ده. دلته خو هر یو ته مهلت ورکولې شی که په هغې کښې هغه غواړی نو ددویم کور دپاره تیارې کولې شی . نودخپلې بې عملئ په وجه تاسو ته انکار کول نه دی پکار . تاسو دالرې ګنړی خو په اصل کښې هغه ډیر نزدې دې تاسو دهغې راتلل ګران ګنړئی خو په حقیقت کښې هغه راتلونکئ دې ،مومنان دعلم اوعقل خاوندان دی هغوئ په دې کامل یقین ساتی اوپه عمل کښې اخته دی.

وَلِلَّهِ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْأَرْضِ ؕ	وَيَوْمَ	
او خاص الله لره ده	بادشاهي	داسمانونو	او دزمکې	او په کومه ورځ	
اود آسمانونو اودزمکې سلطنت صرف دالله ﷻ دپاره دې					
تَقُوْمُ	السَّاعَةُ	يَوْمَئِذٍ	يَّخْسَرُ	الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾	وَتَرٰى
چې قائم شی	قیامت	په هغه ورځ به	ایه خساره کښې پریوزی	باطل پرست خلق	اوبۀ وینې ته
اوپه کومه ورځ چې قیامت را شی انو په دغه ورځ به باطل پرست لوئې تاوان اوکړی					اوته به
كُلَّ أُمَّةٍ	جَاثِيَةً ؕ	كُلُّ أُمَّةٍ	تُدْعٰى	إِلٰى كِتٰبِهَا ؕ	اَلْيَوْمَ
هره ډله	پرمخې پراته	هره ډله به	رابللې کیږی	عملنامې خپلې ته	نن ورځ
هره یوه ډله اووینې چې په ګوډو به پریوتې وی				هره ډله به خپلې عمل نامې ته رابللې شی	

(۱) الطبری : ۲۲*۷۹ ،

تُجْزَوْنَ	مَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾	هٰذَا كِتٰبُنَا
به بدله درکړې کیږې تاسو ته | دهغه عملونو | چې وئ تاسو | چې کول به مو | دا زمونږه کتاب دې				
(اودا به ورته وئیلی شی) نن به تاسو ته دخپلو کارونو بدله درکولې شی | دا زمونږ جوړ کړې دفتر دې				
يَنْطِقُ	عَلَيْكُمْ	بِالْحَقِّ ؕ	اِنَّا كُنَّا	نَسْتَنْسِخُ
چې (خبرې) ګواهی کوی | په تاسو باندې | په حقه سره | بیشکه ووٛ مونږه | چې مونږ به لیکل په چا				
چې ستاسو خلاف رښتیا رښتیا وینا کوی | .....مونږ خو به ستاسو ټول کارونه (په				
مَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾		
هغه څه | چې وئ تاسو | چې کول به مو |				
فرښتوباندې) لیکل |				

قوله تعالی:: يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾

قیامت کښې به باطل په نقصان کښې وی:: داوس نه واخله ترهمیشه پورې او دنن نه مخکښې هم د ټولو آسمانونو اوټولوزمکو مالک اوبادشاه الله ﷻ دې .څوک چې دالله ﷻ اودهغه درسولانو اوکتابونو نه منکروی نودقیامت په ورځ بهٔ هغه لره ډیره لویه سزا وی .حضرت سفیان ثوری m چې کله مدینې منورې ته تشریف راوړو نودوئ واوریدل چې معافری یو ټوقې کونکئ سړې دې اوهغه خلق په خپلو خبرو باندې خندوی . نو دوئ ورته نصیحت اوکړو چې ورته ئې اوفرمائیل چې ولې تاته معلوم نه دی څه چې یوه ورځ به رازی چې هغې کښې به باطل والا ټول نقصان کښې وی ؟ نو ددې خبرې په هغه ډیر اثراوشو اومعافری تر مرګه پورې دا نصیحت هیر نه کړو؟ ابن ابی حاتم.

قوله تعالی:: وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ

په هغه ورځ به هر کس په زنګون پروت وی:هغه ورځ بهٔ داشان درناکه اوعذابناکه اوسخته وی چې هر سړې به په ګوډو پروت وی .دا بهٔ هغه وخت وی چې کله جهنم ددوئ مخامخ کړې شی اوجهنم به یو ساه واخلی اودهغې نه بهٔ هر بنده ویریږی او په ګوډو په پریوزی تر دې حضرت خلیل الله ﷺ او حضرت عیسی روح الله ﷺ هم ددوئ دخلو مبارکو نه به صرف په هغه وخت کښې نفسی نفسی اوځی صفا صفا بهٔ وائی چې یاالله ﷻ مونږ ستا نه نور هیڅ نه غواړو صرف خپله سلامتیا غواړو. حضرت عیسی ﷺ به اوفرمائی چې نن څه دخپلې مور دپاره هم ستانه څه نه غواړم بس ما بچ کړه. څینې مفسرینو لیکلی دی ، مراد دهغې نه دادې چې هره ډله به جدا جدا وی . خو ددې نه بهتر او غوره تفسیر دې چې مونږ اوکړو یعنی هر یو به په ګوډو پروت وی . ابن ابی حاتم کښې دی چې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی لکه چې څه تاسو په جهنم کښې په ګوډو پراته وینم. (۱).

بل مرفوع حدیث پاک کښې دی چې په هغې کښې دشپیلئ بیان دې په هغې کښې داهم دی چې خلق به جدا جدا کړې شی اوټول امتونه به په ګوډو پراته وی دادالله ﷻ فرمان دې چې (وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً) په دې کښې دواړو حالتونه جمع کړې شوی دی.نواصل کښې دواړه تفسیرونه دیوبل خلاف نه دی والله اعلم.

قوله تعالی:: كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰۤى اِلٰى كِتٰبِهَا ؕ

قیامت کښې به هره ډله هر کس خپلې عمل نامې ته رابللې شی:: بیا فرمائی چې هره ډله به خپلو عمل نامو ته

---

۱) داروایت مرسل

Scanned with Ca

راوبللي شي چې ارشاد دې چې ﴿وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِایْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ﴾ عمل نامه بهٔ کیخودلې شي او نبیان اوګواهان به راوستلې شي، نن به تاسو ته ستاسو دعمل نامو بدله درکولې شي لکه چې فرمان دې چې ﴿يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَىِٕذٍ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ﴾ انسان به دهریو ځائې نه خبر کړې شي چې کوم ددهٔ مخکښې لیږلې وو اوکوم ئې رو ستو پریخودی وو. ددوئ مخکښینی او روستنی ټول عملونه به وی بلکه خپله به انسان دخپل حال نه خبر شي. ټولې حیلې اوبهانې اوکړی ،داعمل نامه چې زمونږ په حکم زمونږ امانتدار او ریښتونې فرښتو لیکلې ده هغوئ به ستاسو عملونه ستاسو مخې ته کیږدی نو ته به اووینې چې ګناهګار به دد ې نه ویریږی .او وائی به چې افسوس مونږ لره ډیره بدبختی ده او دعمل نامې مو دا حال دې چې په دې کښې خو هیڅ لوئې واړه عملونه نه دی پریخودی. هر څه په کښې لیکلې شوی دی چې څه دوئ کړی دی هغه به ورته ټول حاضر کړې شي ، ستا رب په هیچا ظلم نه کوی. بیا فرمائی چې مونږ محافظو فرښتو ته حکم ورکړې دې چې دا آسمان ته وړی او آسمانی عملنامو د دیوان دلیکلو سره مقابله کولې شی کوم چې هره شپه دهغې دمقدار مطابق دوئ ته ظاهریږی کوم چې الله ﷻ دخپل مخلوق دپیدائش نه اول لیکلی دی. نو دیو حرف کمې زیاتې به په کښې نه وی. بیا دوئ ددې جملې تلاوت اوکړو.

فَاَمَّا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا				
پس هر چې هغه کسان دی	چې ایمان ئې راوړو				
نو کومو کسانو چې ایمان راوړې وو					
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	فَيُدْخِلُهُمْ	رَبُّهُمْ	فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ		
او عملونه ئې کړی ووه نیک	پس داخل به کړی هغوئ لره	رب دهغوئ	په رحمت خپل کښې		
اونیک عملونه ئې کول	نو دهغوئ رب به هغوئ په خپل رحمت کښې داخل کړی				
ذٰلِكَ هُوَ	الْفَوْزُ	الْمُبِيْنُ ۝	وَاَمَّا الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا ۟	
دا هغه	کامیابی	ښکاره ده	او هر چې هغه کسان دی	چې کفر ئې کړې ووُ	
اوښکاره کامیابی هم دغه ده	.....اوڅوک چې کافران وو	انو (هغوئ ته بهٔ اووئیلې شی چې)			
اَفَلَمْ تَكُنْ	اٰيٰتِيْ	تُتْلٰى	عَلَيْكُمْ	فَاسْتَكْبَرْتُمْ	
(ورته به اووئیلې شی) ایا نهٔ ووه	ایتونه زما	چې لوستلې کیدل به	په تاسو باند	پس تکبر اوکړو تاسو	
ولې تاسو ته به زما ایتونه نهٔ لوستلې کیدل؟ (ولې نه)	خو تاسو (دهغې د منلونه) تکبر اوکړو				
وَكُنْتُمْ	قَوْمًا	مُّجْرِمِيْنَ ۝	وَاِذَا	قِيْلَ	اِنَّ	وَعْدَ اللّٰهِ
اووئ تاسو	قوم	مجرمان	او هر کله چې	به اووئیلې شو	چې بیشکه	وعده دالله
اوتاسو نافرمانه خلق وئ	اوکله چې به دا اووئیلې شو چې دالله ﷻ وعده حقه ده					اودقیامت
حَقٌّ	وَّالسَّاعَةُ	لَا رَيْبَ	فِيْهَا	قُلْتُمْ		
حقه ده	او قیامت چې دې	نشته هیڅ شک	په راتلو دهغې کښې	نو اوبه وئیل تاسو		
(په راتلو) کښې هیڅ شک نشته	.....نوتاسو بهٔ وئیل چې مونږ نه پوهیږو چې					

Scanned with Ca

مَّا نَدْرِيْ مَا السَّاعَةُ ۙ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ

چې نه پيژنو مونږ | چې څه دي قيامت | نه کووُ مونږ ګمان | مګر ګمان لږ | اونه يو مونږه

قيامت لاځه څيز دي | .....مونږ خو دا صرف يو خيالي څيز ګڼړو | او زمونږ(په دي)

بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ۝ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا

يقين کونکي | او بنکاره به شي | هغوئ ته | ناکاروالي | دهغي عمل | چې کړي وي هغوئ

هيڅ يقين نشته | .....اودوئ چې کوم عملونه کړي وي هغه ټول به ورته بنکاره شي

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝

او چاپيره به شي دهغوئ نه | هغه څه | چې ووُ هغوئ | په هغي پوري | چې ټوقي به ني کولي

او په کوم څيزپوري چې به دوئ ټوقي کولي هغه به ورباندي واقع شي

وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ

اواوبه وئيلي شي | چې نن ورځ به | مونږه هير کړو تاسو | لکه څنګه چې هير کړي ووُ تاسو

اودابه ورته اووئيلي شي | چې نن ورځ به مونږ تاسو داسې هير کړو | لکه څنګه چې تاسو

لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ

ملاقات | دورځې ستاسو | چې داده | او ځاني داوسيدو ستاسو | وور دي | او نشته تاسو لره

دا ورځ هيره کړي وه | ..اوستاسو د استوګنې ځاني دوزخ دي | اوستاسو دپاره هيڅوک مددګار نشته

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

دمددګارانو نه (هيڅوک) | دا انجام ستاسو | په دي وجه شو چې بيشکه تاسو انيولې ووُ ايتونه دالله

..... | دا ځکه چې تاسو دالله ﷻ په ايتونو پوري ټوقي کولي | او

هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ

په ټوقو سره | او په دوکه کښې اچولي وئ تاسو | ژوند ددنيا | پس نن ورځ | به نه ايستلې کيږي دا خلق

ددنيا ژوند په دهوکه کښې اچولي وئ | ..... نو نن ورځ به نه دوئ د دوزخ نه بهر راويستې

مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ۝ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ

ددې دوزخ نه | اونه به دهغوئ عذر قبليږي | پس الله لره ثنا ده | چې رب داسمانونو |

شي | او نه به ددوئ توبه قبلولې شي | نوټول تعريفونه دالله ﷻ دپاره دي | چې داسمانونو

وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ

او رب دزمکې دي | رب دمخلوقاتو دي | او هغه لره لوئي ده | په اسمانونو کښې |

او زمکې اود ټول مخلوق رب دي | .....اوپه آسمانونو او زمکه کښې ټوله لوئي صرف دهغه

وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

او په زمکه کښې | او هغه غالب | او حکيم دي |

دپاره ده | اوهغه غالب دي صاحب دحکمت دي

Scanned with Ca

قوله تعالى:: فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

دقيامت په ورځ به ريښتوني فيصلې کيږي: دې آيتونو کښې الله ﷻ دخپلو فيصلو خبر ورکوی چې کومې به هغه په آخرت کښې دخپلو بندګانو مينځ کښې کوی. کومو خلقو چې په زړه سره ايمان قبول کړواو په ښه زړه سره نيک عملونه اوکړل نوهغوئ ته به الله رب العزت په خپل کرم جنت ورکوی. درحمت نه مراد جنت دې. لکه څنګه چې صحيح حديث پاک کښې دی چې الله رب العزت جنت ته اوفرمائيل چې ته ځما رحمت ئې اوځه چې تاکښې څوک غواړم نو هغه به تا کښې داخلوم (۱) ښکاره کاميابی اوحقيقی مراد حاصلول هم دا دی. اوچې کوم خلق ايمان نه روستو شواوکفر ئې اختيار کړو نو هغوئ ته به د قيامت په ورځ دغصې په طور اووئيلې شی چې آيا ستاسو په وړاندې دالله ﷻ آيتونه نه وو وئيلې شوی. بلکه يقينی طور وئيلې کيدل به او تاسو ته به آوريدلې کيدل خوتاسو غروراوکبر اوکړواودهغې اتباع مو اونه کړه دهغې نه مو مخ واړولوتاسو پخپل د الله ﷻ نافرمانئ سره سره په ښکاره هم دالله رب العزت نافرمانی اوکړه. ښه په بهادرئ سره به مو ګناهونه کول. اوچې تاسو ته به کله ايمان والواووئيل چې دالله رب العزت وعده ريښتونې ده او قيامت به ضرور رازی او ددې په راتلو کښې هيڅ شک نشته نو تاسو به الټه جواب ورکولو چې مونږ ته ددې معلومات نشته چې قيامت لا څه ته وائی ؟ هسې خو مونږ داسې ځه وهم شان کيږی خو بيا هم زمونږ يقين نه رازی چې ګنی قيامت په ضرور رازی. اوس هغوئ ته دهغوئ د بدوعملونو سزا ورکړېشوې د ه. پخپلو سترګو ئې د خپلو کړو سزا اوليدله او چې دکوم عذاب نه انکاری وو، کوم عذاب پورې به ئې خندګانې کولې اوچې کوم عذاب ئې ممکن نه ګڼلو نو نن هم هغه عذاب راګير کړی دی. اودوئ دهر قسمه نيکئ نه مايوسه کړې شو او ورته اووئيلې شو چې مونږ به تاسو سره هغه معامله اوکړو لکه چې څنګه څوک هيروی يعنی تاسو به جهنم ته داخل کړو. بيا تاسوهيڅکله په ښه شان سره نه ياد وؤ. دهغه کار بدله چې تاسو ددې ورځې ملاقات هير کړې وو. تاسو په دې وجه هيڅ عمل اونه کړو ځکه چې تاسو ددې ورځې د صداقت قائل نه وې. اوس ستاسو ځائې جهنم دې او اوس هيڅوک نشته چې ستاسو سره مدد اوکړی.

قوله تعالى:: وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنْسَاكُمْ

قيامت کښې دالله ﷻ بنده ته انعامات وريادول: صحيح حديث پاک کښې دی چې آيا ما تاسو ته بچی نه وو درکړی، آيا ما تاسو دنيا کښې انعام واکرام نه وو درکړې ؟ آيا ما اوښان او آسونه ستاسو تابع کړی نه وو؟ اوتاسو مې پريخودی وې چې تاسو ښه په سکون اواطمينان سره په خپلو کورونو کښې ژوند تيروی. دې به جواب کښې اووائی چې ائې الله ﷻ بيشکه داټول ربښتيادی اوتاپه ماداټول احسانات کړی وو. الله ﷻ به ورته اوفرمائی چې نن به تا هغه شان هير کړم لکه څنګه چې دې ځه هير کړې اوم (۲)

قوله تعالى:: ذَٰلِكُمْ بِأَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ

د قيامت سزا به په څه وجه وی؟ بيا فرمائی چې تاسو دا سزاګانې په دې وجه درکولې شی چې تاسو دالله رب العزت آيتونو پورې ټوقې کولې. او تاسو ددنيا ژوند په دهوکه کښې اچولی وې اوتاسو په دې باندې مطمئن وې. اودومره بې غمه وې چې آخر نن تاسو په نقصان اوخساره کښې يئ. اوس به تاسو ددوزخ نه شئ ويستلې اونه به ستاسو نه زمونږ د خفګان څه وجه پوښتلې شی. يعنی ددې عذاب نه

---

(۱) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة ق باب قوله ((تقول هل من مزيد) : ٤٨٥٠، صحيح مسلم: ٢٨٤٦، ترمذی : ٢٥٦١، احمد:٢/٤٥٠.

(۲) صحيح مسلم كتاب الزهد باب الدنيا سجن للمومن وجنة للكافر: ٢٩٦٨

ستاسو پچ کیدل ممکن نه دی اوتاسو لره خمارضا هم ممکن نه ده .لکه څنګه چې یو مومن بې حسابه جنت ته داخلیږی نو داشان به تاسو ته عذاب درکولې شی اوستاسو توبه به سودمنده نه وی .

قوله تعالی:: فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ

اخر کښې دالله ﷻ تعریفونه او لوئی::مومنانو اوکافرانو ته خپلې فیصلې آورولونه پس اوس الله ﷻ فرمان کوی چې ټول حمدونه ، زمکې ، آسمانونه الله رب العزت دپاره دی ،د هرڅیز مالک الله ﷻ دې ، اوهغه ذات دټول جهان پاللو والا دې،آسمانونو او زمکې کښې هم دهغه ذات لوئی او کبریائی ده .هغه ډیر عظمت اوبزرګئ والا دې.دهر یوڅیز دهغه په مخکښې پست دې اودهغه ذات محتاج دې.صحیح مسلم کښې حدیث قدسی دې چې الله رب العزت فرمائی چې عظمت ځما تهبند دې او کبریائی ځما څادر دې . چې کوم سړې دې کښې یو هم ځما نه اخلی نو ځه به هغه جهنم ته داخل کړم[1] یعنی څوک چې کبر او لوئی کوی نوهغه جهنمی دې .هغه ذات عزیز دې یعنی غالب دې اوهغه هیڅکله نه مغلوب کیږی . هیڅوک داسې نشته چې دهغه په مخکښې څه وائی .هغه حکیم ذات دې دهغه هیڅ یو قول ، هیڅ یو فعل ، د هغه دشریعت هیڅ یو مسئله ، دهغه د تقدیر لیکلې شوې یو حرف هم دحکمت نه خالی نه دې . هغه ډیراوچت او لوئې دې .دهغه نه سوا هیڅوک معبود نشته دې.دهغه نه سوا هیڅوک مسجود نشته دې.

الحمد لله د پنځویشتمې پارې تفسیر ختم شو .

.....

[1] صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب تحریم الکبر: ۲۶۲۰، ابوداود : ۴۰۹۰، ابن ماجه: ۴۱۷۴. احمد: ۴۱۴/۲.

Scanned with Ca